تسہیل الحقائق

کنز الدقائق

تالیف

مکتبۃ الاشاعت

تسهیل الحقائق

پښتو شرح

کنز الدقائق

تصنیف: مولانا **نصیب الله** (ابن الحاج عبدالصمد مالیزئی نورالله مرقده)

جلد اول

پښتو ژباړه

مولوی سعید اکبر (رستاد) فاضل احسن العلوم کراچی

مفتی نور احمد (نور) فاضل دار العلوم کراچی

مکتبة الارشد کوئٹه

فون: 03138895104,03013725288

دکتاب نوم : .... تسهیل الحقائق پښتو شرح کنزالدقائق

مؤلف: مولانا نصیب الله (ابن الحاج عبدالصمد مالیزئی نورالله مرقده)

ناشر: مکتبة الارشد کوئټه ،فون نمبر . ۰۳۱۳۸۸۹۵۱۰۴۰۳۰۱۳۷۷۲۵۲۸۸ ـ

دلاسته راوړلو ځايونه:

مکتبه رشیدیه سرکی روډ کوئټه مکتبه حنفیه کاسی روډ کوټه

مکتبة العرفان کاسی روډ کوئټه مکتبه دارالاخلاص پشاور

مکتبه اسلامیه کاسی روډ کوئټه مکتبه عمرفاروق پشاور

مکتبه دارالعلوم کاسی روډ کوټه مکتبه رشیدیه اکوړه ختټک

مکتبه حقانیه چمن مکتبه علمیه اکوړه ختټک

مکتنه عمرفاروق کراچي مکتبه الاحسان بنو

فهرست

جلا جلا نمبرورکړل شوی دی بیادهغه مطابق تشریح شوي ده ترڅو دمسئلي په نهمولو اوراایستلو کي اساني وي ترڅه اندازي پوري په ترجمه کې هم دکومي دنشان په ورکولوسره دهرعبارت ترجمه جلا واضح کړل شوي ده څرنګه چې کنزالدقائق یو متن دی چې په هغه کې ډیرعبارات مقدروي نو بنده چې په کوم ځای کې دمقدرعبارت دتخریج ضرورت محسوس کړی وي په هغه ځای کې یې د(قوله) ترعنوان لاندي دهغه عبارت تخریج هم کړی دی.

مفتیٰ به اقوالو اوجدیدومسائلو وغیره ته د(ف) عنوان په دي وجه ورکړل شوی دی چې که کوم لوستونکی وخت ونه لري نو هغه صرف په ترجمه اوتشریح خپل کاروکړي اوپرمخ ولاړشي اودچاسره چې وخت وي دهغه لپاره د(ف) ترعنوان لاندي چې کوم اهم امورذکرشوي دي له فائدي څخه خالي نه دي نولهذا هغه بایدضرورداهم وګوري.

بنده له څه اردواوعربی شروحاتواودلغت له کتابونو څخه استفاده کړي ده مګرڅرنګه چې په بنیادي ډول دایودرسي مضمون دی لهذاکماحقه اهتمام شایدنه وي شوی په دي وجه به غلطیاني ضرورشوي وي په دي اساس له قارئینو حضراتو څخه ګذارش دی چې د﴿ الدین النصیحة ﴾ په نظرکې لرلوسره بنده په غلطیانوضرور خبرکړي ترڅو دهغو اصلاح وکړای شي.

د حضرت استاذمحترم مولانامحمدزیب صاحب دامت برکاتهم استاذحدیث جامعة العلوم الاسلامیة علامه بنوری ټاون کراچی قدرمنه رأیه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين وعلى اله وصحبه اجمعين

أمابعد: له قرآن اوحدیث څخه وروسته علم فقه اهم علم دی دهمدي علم فقه په ذریعه سره انسان ددنیا او اخرت سعادتونه حاصلوی شي په قرآن کریم کې د الله تعالیٰ ﷻ ارشاددي ﴿ وماكان المؤمنون لينفروا كافة فلولا نفر من كل فرقة منهم طائفة ليتفقهوا في الدين ولينذروا قومهم اذا رجعوا اليهم لعلهم يحذرون ﴾ قرآن کریم په دي ځای کې دعلم دین حقیقت اونصاب په یوه لفظ کې بنودلی دی هغه په ﴿ليتفقهوا في الدين﴾ کې دتفقه لفظ دی په دي کې اشاره ده چې دعلم دین محض ویل کافی نه دي هغه خودیرکافران یهود اونصاریٰ هم وایې شیطان ته ترټولوزیات حاصل وو بلکه له علم دین څخه مراددین پوهه پیدا کول دي همدا دلفظ تفقه ترجمه ده چې دفقه لفظ څخه مشتق دی دفقه معنیٰ همدا پوهه ده په دي ځای کې یې دمجردوله صیغي څخه﴿ليفقهوا الدين﴾ (یعني چې دین زده کړي) ونه فرمایل بلکه ﴿ليتفقهوا في الدين﴾ یې وفرمایل چې دتفعل له باب څخه ده اوپه معنی کې یې دمحنت اومشقت مفهوم شامل دی مطلب دادی چې ددین په پوهه پیدا کولو کې په محنت بزیارکښلوسره مهارت حاصل کړي.

داهم ښکاره خبره ده چې ددین پوهه صرف په دي نشي پیدا کیدای چې دطهارت ، نجاست یالمانځه ،روژي ،زکوة اوحج مسائلي زده کړي بلکه ددین پوهه دي ته ویل کیږي چې دی په دي پوهه شي چې دده دهرقول اوفعل ،حرکت اوسکون له ده څخه په اخرت کې حساب غوښتل کیږي اوده ته په دي دنیاکې څنګه اوسیدل په کاردي په اصل کې ددي فکرنوم ددین پوهه ده څکه نوامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله دفقه تعریف په

ضرورشوي وي په دي اساس له قارئينو حضراتو څخه ګذارش دی چې د ﴿ الدين النصيحة ﴾ په نظركې لرلوسره بنده په غلطيانوضرورخبركړي ترڅو دهغواصلاح وكړای شي.

د حضرت استاذمحترم مولانامحمدزيب صاحب دامت بركاتهم استاذحديث جامعة العلوم الاسلامية علامه بنوري ټاون كراچي قدرمنه رايه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين وعلى اله وصحبه اجمعين

أمابعد: له قرآن اوحديث څخه وروسته علم فقه اهم علم دی دهمدي علم فقه په ذريعه سره انسان ددنيااواخرت سعادتونه حاصلوی شي په قرآن كريم كې دالله تعالى ﷻ ارشاددي ﴿ وماكان المؤمنون لينفرواكافة فلولانفرمن كل فرقة منهم طائفة ليتفقهوا فى الدين ولينذروا قومهم اذارجعوا اليهم لعلهم يحذرون ﴾ قرآن كريم په دي ځای كې دعلم دين حقيقت اونصاب په يوه لفظ كې بنودلی دی هغه په ﴿ليتفقهوا فى الدين﴾كې دتفقه لفظ دی په دي كې اشاره ده چې دعلم دين محض ويل كافی نه دي هغه خوډيركافران يهود اونصارٰی هم وايې شيطان ته ترټولوزيات حاصل وو بلكه له علم دين څخه مراد ددين پوهه پيداكول دي همدادلفظ تفقه ترجمه ده چې دفقه لفظ څخه مشتق دی دفقه معنٰی همداپوهه ده په دي ځای كې يې دمجردوله صيغې څخه﴿ليفقهوا فى الدين﴾(يعنی چې دين زده كړي) ونه فرمايل بلكه ﴿ليتفقهوا فى الدين﴾ يې وفرمايل چې دتفعل له باب څخه ده اوپه معنی كې يې دمحنت اومشقت مفهوم شامل دی مطلب دادی چې ددين په پوهه پيداكولوكې په محنت بزياركښلوسره مهارت حاصل كړي.

داهم ښكاره خبره ده چې ددين پوهه صرف په دي نښي پيداكيدای چې دطهارت ، نجاست يالمانځه ،روژي ،زكوة اوحج مسائلي زده كړي بلكه ددين پوهه دي ته ويل كيږي چې دی په دي پوهه شي چې دده دهرقول اوفعل ،حركت اوسكون له ده څخه په اخرت كې حساب غوښتل كيږي اوده ته په دي دنياكې څنګه اوسيدل په كاردي په اصل كې ددي فكرنوم ددين پوهه ده ځكه نوامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله دفقه تعريف په دي شان كړی دی ﴿معرفة النفس مالهاوماعليها﴾چې انسان هغه كارونومعلوم كړي دكوموچې كول ده لپاره ضروري دي اوهغه كارونه هم ځان ته معلوم كړي دكوموڅخه چې ځان ساتل ضروري دي.

نن صباچې علم فقه دمسائل جزئيه و علم ته ويل كيږي داوروستنی اصطلاح ده په قرآن اوسنت كې دفقه حقيقت هغه دی چې امام ابوحنيفه رحمه الله بيان كړی دی چې كه كوم شخص ددين كتابونوټول ولولي مګرداپوهه پيدانه كړي هغه دقرآن اوسنت په اصطلاح كې عالم نه دی بلكه صرف فقيه عالم دين دی .په هرحال همدافقه هغه علم دی چې دالله تعالٰى په نزدهم قدرمندی اوبندګانوته يې هم هروقت ضرورت پيښيږي په عربي ژبه كې خوددي علم دومره خزاني جمع شوي دي چې عقل ورته حيرانيږي ليكن داردوژبي لمن تراوسه دعربي په مقابله كې له دي ملغلرواوخزانوڅخه تشه ده كه څه هم دفتاوی په موضوع اوهمداشان داردوشروحاتواوحواشيوڅه غټه ذخيره جمع شوي ده مګريياهم موضوع تږي ده.

دفقه دشروحاتو په سلسله كې دمحترم وروږمولانانصيب الله صاحب دكتاب تسهيل الحقائق اردوشرح دكنزالدقائق ترچاپ لاندي څوبابونه دنمونې په طوردتقريض لپاره راليږل شوي دي مختلف ځايونه مې مطالعه كړل الحمدلله له هره اړخه كتاب دانتهائي تحسين اوقدروړده.

غالبأدكتاب ترتيب څه په دې ډول دی (١) په ښه اوښائسته اردوژبه كې دعربي عبارت ترجمه اوتشريح (٢)دمسائلودپاره مختصردلائل(٣)د(ف) ترعنوان لاندي دمفتی به قول وضاحت اودهغه تخريج (۴)په بعضوځايونوكې دضرورت مطابق دجديدو مسائلواضافه والی اوداسې نورفوائد. ان شاءالله له دې څخه به مدرسينواوطلباءكراموته له تسهيل اوتشريح سره سره دمزيدوفوائدواوجزئياتو ذخيره هم په لاس ورشي.

له الله تعالی ﷻ څخه دادعاده چې الله تعالي ﷻ له ښه والي اوښائسته والي سره ددې تكميل وكړي اوزربې دچاپ په ګينه وپوشي اودمحترم مؤلف خدمت قبول كړي اوهرعام او خاص ته له دې څخه عظيمه نفع ورسوي اوالله تعالی دې مؤلف اومؤلِف دواړه دقبوليت په خلعت سرفرازه كړي ،آمين يارب العلمين وصلی الله تعالی علی خيرخلقه محمدوآله وصحبه اجمعين.

كتبــه محمـــدزيب عفـــی عنــه جامعـــة العلــوم الاســلامية علامــه بنــوري ټــاؤن كراچـــی

تاريخ:۲۷/۱/۱۴۳۱هج موافق ۱۴/۱/۲۰۱۰

دحضرت استاذ محترم مولاناسيدغلام رسول شاه صاحب دامت بركاتهم شيخ الحديث جامعه مركزيه تجويدالقرآن كوټه قدرمنه رأيه

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلی علی رسوله الكريم .دعلم فقه اهميت اوضرورت له يوه هوښيارمسلمان څخه هم پټ نه دی ځكه چې دانسان دعملي ژوندانه دسمون اوښه والی تكفل دعلم الفقه داحسان ترباړلاندې دی علم الفقه د «العلم بالاحكام الشرعية العملية عن ادلتها التفصيلية» نوم دی څرنګه چې همدغه علم دانسان دكاميابي اوكامراني ضامن دی ځكه نبی كريم ﷺ ارشادفرمايلی دی «من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين» اوهمدارنګه دحضرت ابن عباس ﷺ ديوه خدمت په بدل كې نبی كريم ﷺ هغه ته دعاوكړه «اللهم فقهه في الدين» دحضرت عمر ﷺ ارشاددی «تفقهوا قبل ان تسودوا» .(رواه البخاری)

څرنګه چې داعلم ددېرواسلامي علماؤډېرمخدوم پاته شوی دی دمختلفوائمه وفقهي مذاهب په ډېر اهتمام سره مدون شوي دي اوبيا په هره فقه كې مختلف متون ليكل شوي دي بيادډېرشروحات ليكل شوي دي بيادمشهورورواياتو، ظاهرو،متواترو،نادرواوشاذوتعين شوی دی اوپه هره فقه كې مفتیٰ به اوغيرمفتیٰ به اقوال په نښه شوي دي همدارنګه په فقه حنفي كې هم مختلف طويل اومختصر متون ليكل شوي دي دكوموڅخه چې يومتن متين دعلامه نسفي رحمه الله كنزالدقائق دی كوم چې له اختصارسره سره انتهائي جامع هم دی.

ليكن دځينوعباراتودسختۍ له امله هم ډېرمشهوردي ځكه نوپه عربي اردوهره ژبه كې طويل اومختصرپه هرډول دده شروحات ليكل شوي دي په همدې سلسله كې حضرت مولانانصيب الله صاحب

استاذ جامعه اسلاميه بحرالعلوم سرياب کسټم کوټه هم قلم اوچت کړی دی او د تسهيل الحقائق په نوم يې په اردوژبه کې د کنزالدقائق شرح ليکلي ده کومه چې دبنده په خيال به واقعةً ان شاء الله ددې مشکل متن په تسهيل او تيسير کې ګټوره او مرستندويه وي بنده ددې شرح د څه ځايونو مطالعه وکړه او د اشرح د کتاب د حل علاوه د حديثو او فقهي مباحثو او مسائلو مرقع او ذخيره ورته ښکاره شوه . الله تعالى دې د موصوف دا خدمت د ټولو علماؤ او طالبانو لپاره ګټور او دده د ټولو متعلقينو لپاره د نجات ذريعه وګرځوي .آمين.

﴿إنّما الفقيه الزاهد في الدّنيا الرّاغب إلى الآخرة البصير بدينه المداوم على عبادة ربّه الورع الكافّ عن أعراض المسلمين العفيف عن أموالهم الناصح لجماعتهم﴾، (يعنى فقيه هغه دى چې له دنياسره يې مينه نه وي او د اخرت غوښتونكى وي، په خپل دين بصيرت لري، دخپل رب په عبادت باندې هميشه والى كوي، متقي وي، دمسلمانانو عزت او ابروته له ضرر رسولو څخه ځان ساتي، دهغوئ له مال او دولت سره تعلق نه لري او د مسلمانانو خيرغوښتونكى وي).

ددې تعريف له نظره په فقه كې درې قسمه احكام شامل دي /نمبر ۱-هغه احكام چې دهغوئ تعلق له باطني اخلاقو او عاداتو سره وي لكه له الله تعالى ﷻ او دهغه له رسول ﷺ سره محبت لرل نيت خالص كول وغيره كوموته چې تصوف ويل كيږي. /نمبر ۲- هغه احكام چې دهغوئ تعلق له عقائدو سره وي لكه دالله تعالى پرذات، صفتونو او توحيد باندې ايمان لرل او په رسالت او معاد باندې ايمان لرل وغيره كوموته چې علم كلام ويل كيږي. /نمبر ۳-هغه احكام چې دهغوئ تعلق له ظاهري اعضاو سره وي لكه لمونځ، روژه، حج او زكوة وغيره ددې تعريف له نظره دفقه موضوع عقائد او دټولو ظاهري او باطني اعمالو مجموعه ده.

له عهدرسالت څخه وروسته چې كله اسلامي فتوحات ډير شول اولوى لوى متمدن ملكونه تراسلامي حكومت لاندې شول دنورو ملتونو ډيرخلك په اسلام كې داخل شول نوي نوي شيان جوړشول اونوي حالات اومسائل رامنځته شول دكوموچې خواب وركول له دليل اوتفصيل سره په فقهاولازم شواوددې په نتيجه كې دمذكورودريوسروقسمونوپه احكامواومسائلوكې ددلائلواو متعلقه مباحثواضافه كيدله نوددې خبرې ضرورت پيښ شوچې داساني اوسهولت لپاره درې سره قسمه يوله بله جلا اوممتاز مرتب كړاى شي نوپه دې ډول علم فقه په دريوعلوموتقسيم شوه اودهرعلم جلاجلا نوم كښيښودل شو يعنى علم الكلام، علم التصوف، اوعلم الفقه.

دمتاخرينو تعريف: كله چې علم فقه له عباداتو، نكاح او معاملاتو سره خاصه شوه نو متأخرينو ددې مختلف تعريفونه وكړل مګر مشهور تعريف يې دا دى ﴿هو العلم بالأحكام الشرعية الفرعية المكتسب من أدلّتها التفصيلية﴾ (يعنى فقه دهغه فرعي احكامو دزده كړې نوم دى چې له تفصيلي دلائلو څخه مستنبط وي).

دعلم فقه موضوع: په كوم علم كې چې دكوم شي له حالاتو او صفاتو څخه بحث كيږي هغه شى دهغه علم موضوع وي مثلاً په علم طب كې دانسان دبدن له هغه حالاتو څخه بحث كيږي چې دهغو تعلق له روغتيا اوناروغي سره وي په دې لحاظ دعلم طب موضوع دانسان بدن دى. همدارنګه په علم فقه كې څرنګه چې دانسان دظاهري افعالو له څه صفاتو (احكام شرعية) څخه بحث كيږي نو لهذا دعلم فقه موضوع دعاقل بالغ انسان ظاهري افعال دي داخبره دعلم فقه دجديد اصطلاحي تعريف له نظره ده چې علم كلام اوباطني اعمالو ته شامل نه دى.

دقديم اصطلاحي فقه موضوع: څرنګه چې په قديمه اصطلاحي فقه كې نه دعقائدو او اعمالو جلاوالى شته اونه دظاهرا و باطن، بلكه دټولو زده كړې ته له دليل څخه علم فقه ويل كيږي نو لهذا دعلم فقه موضوع صرف ظاهري اعمال نه دي بلكه عقائد او دټولو ظاهري او باطني اعمالو مجموعه يې موضوع ده.

دفقه غرض وغايت:دفقه غرض اوغايت ﴿الفوزبسعادة الدارين﴾ده يعنى ددنيا اواخرت دنيک بختى په حاصلولو کښې کاميابي .ددنياکاميابي داده چې له علم فقه څخه شرعي احکام معلوم کړي اوپه مأموراتوعمل وکړي اوله منهياتوڅخه ځان وژغوري اوداخرت کاميابي دجنت نعمتونه ترلاسه کول دي.
دعلم فقه شرعى حکم:علم فقه زده کول فرض عين هم دې اوفرض کفايه هم، دومره معلومات حاصلول کوموته چې په دين کښې ضرورت پيښيږي فرض عين دى اودخپل ضرورت څخه زيات دنورودنفع دپاره علم حاصلول ترڅونورخلک هم په مأموراتوعمل وکړي اوله منکراتوڅخه ځان وژغوري فرض کفايه دى اوپه دي کښې تبحرحاصلول دټولوانواعو عباداتو اومعاملاتومثلاًطهارت ،لمانځه ،روژي،حج اونکاح وغيره علم حاصلول مستحب دى،له دي ماسوا دچاچې له کومي شعبي سره تعلق وي دهغې شعبي متعلق احکاموزده کول هم ورته ضروري دي ترڅودهغې شعبې په محرماتوکښې له لويدلوڅخه ځان وژغوري.
دفقه اوفقيه فضائل:دالله تعالى ارشاددى﴿شهدالله انّه لااله الاهو والملئكة واولوالعلم قائماً بالقسط﴾ (الله تعالى شاهدي ورکوي چې هيڅوک دعبادت لائق نشته ماسواله ده ﷻ څخه اوفرشتي او دعلم خاوندان هم شاهدي ورکوي چې دعبادت لائق نشته ماسواله ده ﷻ څخه)په دي ايت مبارک کښې الله ﷻ له خپل ځان څخه شروع کړي ده اوپه دوهم ځاى کښې يې فرشتي ذکرکړي دي اوپه دريمه درجه کښې اهل علم ذکرکړي دي نوداهل علم دښه والى اوبزرگى دپاره صرف همدا کافى ده، اوفرمايي ﴿يرفع الله الذين آمنوا منكم والذين اوتوا العلم درجٰت﴾(الله تعالى په تاسي کښې دايمان لرونکوکسانو(يعنى مؤمنانو) اودهغوکسانوچې هغوئ ته علم ورکړل شوى دى درجي لوړوي)حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي ترعامومسلمانانوبه علماء اوه سوه درجې لوړوي اودهرودوودرجوترمنځ به دپنځه سوه کاله په اندازه فاصله وي.
پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين﴾(يعنى چاته چې الله ﷻ دخيراراده وفرمايي هغه ته ددين پوهه ورکړي)اوفرمايلي يې دي ﴿العلماء ورثة الانبياء﴾(يعنى عالمان دانبياو وارثين دي)ښکاره خبره ده چې ترنبوت لوړه مرتبه نشته اوداهم ښکاره ده چې ددي مرتبې تروراثت لوړکوم بل شرف نشته ،اوفرمايلي يې دي ﴿يستغفر للعالم مافي السمٰوٰت والأرض﴾ (يعني په اسمانواوځمکوکښې چې څه دي دعالم لپاره دمغفرت غوښتنه کوي) ترڈي لوړبه کوم منصب وي دکوم منصب لرونکوته چې داسمانواو ځمکوفرشتي په مغفرت غوښتلو مشغولي وي ،اوفرمايي ؛﴿توزن يوم القيامة مداد العلماء بدم الشهداء﴾(يعني دقيامت په ورځ به دعلماؤسياهي دشهيدانوله وينوسره تلل کيږي) اوفرمايي:﴿فضل العالم على العابد كفضلي على ادنیٰ رجل من اصحابي﴾(يعني دعالم فضيلت په عابدباندي دومره دى لکه څومره چې زمافضيلت زماپه صحابه وکښې په ترټولوکم مرتبه صحابى دى).
ادله تفصيليه چې له هغوڅخه فقه اخيستل شوي ده څلوردي ،کتاب الله ، سنت رسول الله ، اجماع امت ، قياس شرعى .
دکتاب الله تعريف، کتاب الله که څه هم دڅه پيژندګلوي او تعريف محتاج نه دى ځکه چې داپوبديهى کلام ده مګردځينو مصلحتونوپه اساس يې دعلم اصول الفقه علماؤ داسي تعريف کړى دى ؛﴿هوالقرآن المنزل على

رسول الله عليه الصلوة والسلام المكتوب في المصاحف المنقول عنه نقلا متواترا بلا شبهة﴾(يعنى قرآن كريم دالله تعالى ﷻ هغه كلام دى چې دالله ﷻ له لوري پرنبى كريم ﷺ نازل شوى دى او په مصاحفو كې ليكلى دى او ترموږ پورې په تواتر سره بغير له شبهې رانقل شوى دى.

قرآن كريم كه څه هم دفقه مأخذ دى مگرټول قرآن نه دى بلكه خاص داحكامو ايتونه دفقه مأخذ دى چې دپنځه سوه ايتونو په شاوخوا كې دى.

دسنت تعريف: دفقه دوهم مأخذ سنت رسول الله ﷺ دى دسنت لغوي معنى طريقه او عادت ده او دفقهاؤ په اصطلاح كې سنت هغه ته ويل كيږي په كوموچې نبى كريم ﷺ له كله كله پريښودلو سره هميشه والى كړى وي، مگر داصوليينو په اصطلاح كې دسنت په اطلاق كې پراخي ده لكه څرنگه چې صاحب دنورالانوارداشان تعريف كړى دى﴿السنة تطلق على قول الرسول ﷺ وفعله وسكوته وعلى اقوال الصحابة ﷺ وافعالهم﴾(يعنى دنبى كريم ﷺ فعل قول او سكوت ته سنت ويل كيږي اوهمدارنگه دصحابه كرامو ﷺ اقوالوا وافعالوته هم سنت ويل كيږي).

دسنت حجيت: دسنتو حجيت په كلام الله ﷻ سره ثابت دى كماقال الله تعالى﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾(يعنى نبى كريم ﷺ په خپله خوښه خبري نه جوړوي دنبى كريم ﷺ ارشادات خالص وحى دي).

داجماع تعريف: دفقه دريم مأخذ اجماع ده داجماع لغوي معنى عزم او اتفاق كول ده اصوليينو داجماع تعريف داسې كړى دى ﴿اتفاق المجتهدين من أمة محمد ﷺ في كل عصر على أمر من الأمور﴾(يعنى دنبى كريم ﷺ دامت دمجتهدينو په يوه زمانه كې په يوه معامله باندې اتفاق كولو ته اجماع ويل كيږي).

له مذكورتعريف څخه څرگنديږي چې اجماع په كومه زمانه ياوخت پسې خاصه نه ده دهري زمانې داجتهادڅښتنان په يوه مسئله باندې اتفاق كولى شي اوددوئ دااتفاق به منل كيږي زموږ په نزدصحيح مذهب دادى چې دهري زمانې داهل اجتهاداوعدالت لرونكو حضراتواجماع معتبره اوشرعي حجت دى علامه يعقوب اللبنانى ليكي﴿الصحيح عندنا أن اجماع علماء كل عصر من أهل العدالة والاجتهاد حجة﴾(يعنى زموږ په نزدصحيح داده چې دهري زمانې داهل عدالت او اجتهاداجماع حجت ده).

حجيت اجماع: داجماع حجيت له كلام الله ﷻ څخه ثابت دى دالله ﷻ ارشاد دى﴿كذلك جعلناكم أمة وسطا لتكونوا شهداء على الناس﴾ همداشان ماتاسې گرځولي ياست غوره امت ترڅوتاسې په خلكوشاهدان جوړشئ).

دپاكستان سابق مفتى اعظم حضرت مولانامفتى محمدشفيع صاحب رحمة الله عليه دقرطبى په حواله ليكلي دي چې دااجماع په حجت والي باندې يودليل دى ځكه چې كله الله تعالى ﷻ داامت شاهدان وگڼل اودنورو امتونو په مقابل كې يې ددوئ خبره حجت وگڼله نوثابته شوه چې ددې امت (پريوه مسئله)اجماع حجت دى اوعمل پري واجب دى په دې شان چې دصحابه كرامو ﷺ اجماع اودتابعينواجماع په تبع تابعينو حجت ده (معارف القرآن جلد:١ ص٣٧٣). اودرسول الله ﷺ ارشاددى ﴿ان الله لايجمع امتي أوقال أمة محمد على ضلالة﴾(يعنى الله ﷻ زماامت ياپي داسې وفرمايل چې دمحمد ﷺ امت په گمراهى باندې نه جمع كوي).

دقياس تعريف: دفقه څلورم مأخذ قياس دی دقياس لغوي معنی اندازه كول ،برابرول ده لكه چې ويل كيږي قاس النعل بالنعل ،هغه څپلۍ له بلې څپلۍ سره برابره كړه نوپه قياس شرعي كې هم فرع داصل سره په حكم كې مماثله اوبرابره كيږي . دنورالانوار مصنف يې اصطلاحي تعريف داسې كړی دی ﴿تقدير الفرع بالاصل في الحكم والعلة﴾ (يعنی فرع له اصل سره په حكم اوعلت كې برابرول) .

حجيت قياس : دقياس حجيت په كتاب الله ثابت دی دالله ﷻ ارشاددی ﴿فاعتبروا يا اولي الابصار﴾ (يعنی ای سترګولرونكواعتبارو كړئ) په دې ايت مبارك كې الله ﷻ دبصيرت څښتنانو ته داعتباركولو حكم كړی دی او فقهاء كرامو داعتبار معنی داسې كړې ده ﴿رد الشيء الى نظيره اى الحكم على الشيء بما هو ثابت لنظيره﴾ يو شی دهغه مثل ته ردول يعنی په يوه شي هغه حكم لګول چې دهغه شي نظيرته ثابت دی .

دحضرت معاذ ﷺ مشهوره واقعه ده چې كله رسول الله ﷺ هغه ديمن والی مقرر كړنود رخصتولو پر وخت يې له هغه څخه پوښتنه وكړه ﴿ بما تقضي يا معاذ؟ قال بكتاب الله قال فان لم تجد في كتاب الله؟ قال فبسنة رسوله قال فان لم تجدفيهما؟ قال اجتهد برأيي فقال الحمد لله الذي وفق رسول رسوله بما يحب ويرضى﴾(يعنی ای معاذه !كله چې ستامخته كومه معامله اومقدمه وړاندې كړای شي نوپه څه به فيصله كوې؟ نومعاذ ﷺ عرض وكړ دالله تعالی په كتاب ،په دې نبی كريم ﷺ وفرمايل كه ته دهغې معاملې حل په كتاب الله كې پيدانه كړې نو؟ده ﷺ وفرمايل دالله ﷻ درسول په سنت باندې ،نبی كريم ﷺ وفرمايل كه په دواړوكې دهغې معاملې حل پيدانه كړې نو؟ هغه ﷺ عرض وكړ په خپله رأيه سره به اجتهادكوم پر دې نبی كريم ﷺ وفرمايل ټول صفتونه هغه ذات لره دي چې هغه دخپل رسول ﷺ رسول ته ددې خبرې توفيق وركړ په كومه چې هغه خوشحاليږي اوهغه خوښوي .

همدارنګه په يوه روايت كې راغلي دي ﴿اذا حكم الحاكم فاجتهد فاصاب فله اجران فان اخطأ فله اجر واحد﴾ يعنی كله چې يوحاكم په كومه معامله كې دحكم كولو لپاره اجتهاد وكړي او په خپل اجتهادكې مصيب وي نو ده لره دوه اجره دي اوكه خطاشي نو ده لره يو اجر دی).

فقه درسالت په زمانه كې: دنبی كريم ﷺ په زمانه كې دفقه موجوده اصطلاحات نه وو بلكه صحابه كرامو ﷺ به چې له نبی كريم ﷺ څخه څه اوريدل يابه يې نبی كريم ﷺ په څه كولو ليدونو دهغه مطابق عمل به يې كاوه مثلادنبی كريم ﷺ په څيراودس به يې كاوه دنبی كريم ﷺ په څېر لمونځ به يې كاوه اونبی كريم ﷺ به ضروري خبرې خپله بيانولې مګردرسالت له زمانې وروسته چې كله دصحابه كرامو ﷺ په زمانه كې اسلامي فتوحاتو وسعت ومونده اودخلافت دائره په پراخيدو شوه اوصحابه كرام ﷺ دنړۍ په هركونج اوكنار كې خپاره شول په كثرت سره حوادث رامخته كيدل نوله دې امله داجتهاداو استنباط ضرورت پيداشو مثلاله يوچا څخه په غلطۍ سره په لمانځه كې يوكار پاتې شو نودامسئله پيښه شوه چې لمونځ وشو اوكه يا؟اوداخو ممكنه نه وه چې دلمانځه ټول اعمال دې فرض وګڼل شي يا دې واجب اويادې مستحب وګڼل شي ځكه نوصحابه كرامو ﷺ ته داتفريق كول وو چې فلانی عمل فرض دی فلانی واجب يامستحب

دی او همدا رنګه فلانی عمل مکروه دی او فلانی حرام دی او دتفریق کولو په تجویز شویو اصولو دټول اتفاق ممکن نه وو ځکه نو اختلاف پیدا شو.

فقه دصحابه کرامو ﷺ په زمانه کې: امام شعبی رحمه الله فرمايي: چې دنبی کریم ﷺ په صحابه کرامو ﷺ کې له شپږوصحابه کرامو څخه علم اخيستل شوی دی په دوئ کې حضرت عمر، حضرت عبدالله بن مسعود او حضرت زیدبن ثابت ﷺ په علم کې یوله بل سره مشابه وو په دوئ کې ځینوله ځینونورو څخه اخذ کاوه او حضرت علی، حضرت ابی ابن کعب او حضرت ابو موسي اشعری ﷺ په علم کې یو له بل سره مشابهت درلود او له یو بل څخه یې اخذ کاوه.

دنبی کریم ﷺ له وصال څخه وروسته یوسل دیرش یا یوسل شپیتو صحابه کرامو ﷺ فتوی ورکوله او دهغوئ دري طبقي وي /**نمبر ۱- مکثرین** کوموچې ډیري فتواوي ورکولي هغوئ اوه نفره صحابه کرام ﷺ وو حضرت عمر ﷺ، حضرت علی ﷺ، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ، ام المؤمنین حضرت عائشه ﷺ، حضرت زیدبن ثابت ﷺ، حضرت عبدالله بن عباس ﷺ، او حضرت عبدالله بن عمر ﷺ.

نمبر ۲-متوسطین کوموچې له مکثرینو څخه لږلږ فتواوي ورکولي هغوئ دیارلس صحابه کرام وو حضرت ابوبکرصدیق ﷺ، حضرت ام سلمه ﷺ، حضرت انس ﷺ، حضرت ابوسعید خدری ﷺ، حضرت ابوهریره ﷺ، حضرت عثمان بن عفان ﷺ، حضرت عبدالله بن عمروبن العاص ﷺ. حضرت عبدالله بن زبیر ﷺ، حضرت ابوموسي اشعری ﷺ، حضرت سعدبن وقاص ﷺ، حضرت سلمان فارسي ﷺ، حضرت جابربن عبدالله ﷺ، حضرت معاذبن جبل ﷺ.

نمبر ۳- مقللین صحابه کرام ﷺ کوم چې له پورته ذکرشویو دواړو طبقو څخه یې لږ فتواوي ورکولي هغوئ نژدي اتلس صحابه کرام ﷺ وو.

فقه دتابعينو په زمانه کې: دنبی کریم ﷺ له زمانې څخه بیادریم خلیفه حضرت عثمان غنی ﷺ دشهادت تروخته یعنی تر۳۵هج پوري داسلامي ښارونو او علوموو مرکز مدینه منوره وه بیا دحضرت علی ﷺ په زمانه کې کوفه مرکز جوړشو له هغه څخه مخکې حضرت عمر ﷺ عبدالله بن مسعود ﷺ دکوفې لپاره معلم لیږلی وو هغه ترلسو کالو په کوفه کې تعلیم ورکړ دهغه دفتواؤ ډیره لویه ذخیره غیرمرتبه وه دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ مشهور شاګرد حضرت علقمه بن قیس بن عبدالله ده کوم چې له کبار تابعینو څخه ده دنبی کریم ﷺ په زمانه کې یې دنیاته سترګې غړولې دي او له خلفاء اربعه او نوروصحابه کرامو ﷺ څخه دروایاتو اوریدل ثابت دي له حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه یې قرآن کریم لوستلی دی او فقه یې هم هغه څخه زده کړې ده خپله حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ دده په باره کې فرمايي زه چې څه وايم او زده مې دي هغه دعلقمه هم زده دي دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ علم حضرت علقمه ته منتقل شوا وهغه یې نوره توضیع اوتشریح وکړه حضرت علقمه ﷺ ددري شپیته کالو په عمرله دې فانی نړۍ سترګې پټې کړې.

بیا د حضرت علقمه علم حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله ته منتقل شو حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله په ۵۰ ه کې پیدا شوی دی ده له حضرت علقمه، مسروق اونورو علماء کرامو څخه روایات کړي دي هغه هم د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د علم ښه تنقیح وکړه او په کال ۹۵ یا ۹۶ هج) کې وفات شو.

بیا د حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله تعالی علم حضرت حمادبن سلیمان الکوفی طرف ته منتقل شو او حضرت حماد د حضرت ابراهیم نخعی په فقه کې ترټولو زیات مهارت حاصل کړ اوله دې سره یې له امام شعبی څخه هم فقه حاصله کړه او په کال ۱۲۰ هج) کې وفات شو.

کله چې حضرت حماد وفات شو نو خلکو امام الائمة امام اعظم ابوحنیفه نعمان بن ثابت د هغه ځای ناستی وټاکه نو په دې شان د فقه مذکوره ذخیره دده طرف ته منتقله شوه لیکن څنګه چې د علم فقه دا ذخیره غیر مرتبه وه نو د حضرت امام ابوحنیفه په زړه کې د هغې دباقاعده مرتب اومدون کولو خیال پیدا شو لیکن د کار د سختوالی له امله ده دا اهم کار تر خپلي ذاتي رأيې پورې منحصر کول نه غوښتل څکه نو ده د خپلو یو زر شاګردانو له جملې څخه څلویښت کسان د فقه د تدوین لپاره غوره کړل یو فقهی مجلس مشاورت یې جوړ کړ بیا له د غو څلویښتو څخه لس ممتاز کسان غوره کړل او یو بل خصوصي مجلس یې هم جوړ کړ د کومو چې نومونه په لاندې ډول دي.

(۱)حضرت امام ابویوسف(۲)حضرت امام زفر(۳)داؤد طائی(۴) اسدبن عمرو(۵)یوسف بن خالد تمیمی(۶)یحی بن زکریابن ابی زائده (۷)حفص بن غیاث(۸)حبان بن مندل (۹)قاسم بن معن(۱۰)امام محمد رحمهم الله تعالی.

علامه علاء الدین الحصکفی فرمایي: الفقه زرعه عبدالله بن مسعود وسقاه علقمه وحصده ابراهیم النخعی وداسه حماد وطحنه ابوحنیفه وعجنه ابویوسف وخبزه محمد فسائر الناس یاکلون من خبزه وقد نظم بعضهم فقال الفقه زرع ابن مسعود وعلقمه: حصاده ثم ابراهیم دواس: نعمان طاحنه یعقوب عاجنه: محمد خابز والآکل الناس.(ردالمحتار:۱/۴۷).

طریقه تدوین: څرنګه چې امام ابوحنیفه د مجلس هرهر ممبر(غړی)ته دا اختیار ورکړی وو چې هغه په ازادانه طریقه سره خپل موقف اورأیه وړاندې کولی شي او د احادیثو، د صحابه و د اثارو، اجماع او قیاس په رڼائې کې په ازادانه طریقه سره خبرې کولی شي، په یو ځای کې امام صاحب فرمایلي دي چې ما په خپله دوئ ته دا اختیار ورکړی دی او دوئ مې د دې کار سره عادت کړي دي چې د چا تر رعب لاندې رانه شي او دیو بل په دلائلو حتیٰ زما په دلائلو نکته چینې او تنقید وکړي تر څو خبره بالکل صافه او ښه واضحه شي له بحث او څېړنې وروسته چې به په کومه مسئله د ټول اتفاق راغی نو د هغې د لیکلو حکم به یې ورکاوه علامه ابن عابدین شامی فرمایي: روی الامام ابوجعفر الشیراماذی عن شقیق البلخی انه کان یقول کان الامام ابوحنیفه من اورع الناس واعبد الناس واکرم الناس واکثرهم احتیاطا فی الدین وابعدهم عن القول بالرأی فی دین الله عزوجل وکان لایضع مسئلة فی العلم حتی یجمع اصحابه کلهم علی موافقتها للشریعة قال لابی یوسف او غیره ضعها فی الباب الفلانی اه کذا فی المیزان للامام الشعرانی قدس سره ونقل ط عن مسند الخوارزمی ان الامام اجتمع معه الف من اصحابه اجلهم وافضلهم اربعون قد بلغوا حد الاجتهاد فقربهم وادناهم وقال لهم انی الجمت هذا الفقه واسرجته لکم فاعینونی فان الناس قد جعلونی جسرا علی النار فان المنتهی لغیری واللعب علی ظهری فکان اذا وقعت واقعة شاورهم وناظرهم وحاورهم وسألهم فیسمع ماعندهم من الأخبار والآثار ویقول ماعنده ویناظرهم شهرا او اکثر حتی یستقر آخر الاقوال فیثبته ابویوسف حتی اثبت الاصول علی هذا المنهاج شوری لا انه تفرد بذلک کغیره من الائمة.(ردالمحتار:۱/۵۰)

خلاصه دا چې فقه حنفي صرف ديوه شخص رأيه نه ده بلکه دڅلوېښتو جبال العلم دشورٰی مرتب کړل شوی قانون دی او ترکله به چې کومه مسئله دښه تحقيق او تفتيش له مراحلو تيره نه شوه نو ده به دهغې له ليکلو څخه منع کوله او کله چې به دشوری ټولو ملګروپه يوه مسئله اتفاق وکړنو بيابه ليکل کيدله او که به ديروخت ځيني ملګري په خپلو رأيو قائم وو نو دټولو اقوال به ليکل کيدل دفقه دتدوين دا عظيم کار د پنځه ويشتو کالو په موده کې پای ته ورسيدو دامام ابوحنيفه اخيري عمر دبغداد په بندي خانه کې تير شو هلته هم داکارپه تسلسل سره روان وو ددې تياري شوي فقهي مجموعې دمسائلو تعداد دولس لکه نيوی زره شودل کيږي ځيني يې شپږلکه او ځيني يې پنځه لکه بيانوي او ويل کيږي چې په دې کې اته ديرش زره مسائل له عباداتو سره تړاو لري او باقي له معاملاتو سره متعلقي دي.

دفقه حنفي په باره کې علامه سيد محمد يوسف البنوری نورالله مرقده ليکي: يكفى لمزية مذهبه وفضل شخصيته ماجمع الله له من اعوانه وانصاره صفوة اهل عصره من اصحابه الفقهاء المحدثين وذالك مايحدثنا الخطيب فى تاريخه بسنده عن ابن كرامة قال كنا عند وكيع يوما فقال رجل: أخطأ ابو حنيفة فقال وكيع: كيف يقدر ابو حنيفة يخطى؟ ومعه مثل ابو يوسف وزفر فى قياسهما، ومثل يحى بن ابى زائده وحفص بن غياث وحبان ومندل فى حفظهم الحديث، والقاسم بن معن فى معرفته باللغة والعربية، وداؤد الطائى وفضيل بن عياض فى زهدهما وورعهما، ومن كان هؤلاء جلساؤه لم يكد يخطى لانه ان اخطأ ردوه اه، وحكاه ابن شيبه السندى وزاد فى روايته وحمزة الزيات وعافية الازدى فى القرآن الخ وعند ابن العوام بالاسانيد الصحيحة. (معارف السنن: ٢٦٣/٣).

دفقه حنفي دمقبوليت وجوهات: په ټوله دنياکې دفقه حنفي دمقبوليت وجوهات په لاندې دول دي (۱) دفقه حنفي مسائلي په حکمتونو او مصلحتونو له بنا سره سره له روايت او درايت سره عين مطابقي دي (۲) فقه حنفي دنورو ټولو فقهوپه نسبت اسانه او يسيرالعمل ده (۳) دفقه حنفي دمعاملاتو په برخه کې وسعت استحکام او باقاعده والی کوم چې دتمدن لپاره ډيرضروري ده ترټولو فقهو زياته ده (۴) فقه حنفي غير مسلمانان اوسيدونکو ته په ډيره فياضي او ازادی سره حقوق وربخښلي دی له کوم څخه چې دبادشاهي په نظم کې ډيره اساني پيدا کيږي (۵) په منصوصي احکاموکې چې امام ابوحنيفة کوم طرز غوره کړی وي هغه عموما ډيرقوی او مدلل وي (۶) دخليفه هارون رشيد په زمانه کې امام ابويوسف قاضي شو په عراق ،خراسان او ماوراء النهر کې دحنفي فقه مطابق فيصلي کولي له دې وجې فقه حنفي ډيره مشهوره شوه.

طبقات الفقهاء: داحمدبن سليمان چې لقب يې شمس الدين دی او په ابن کمال باشا مشهوردی دتصريح مطابق فقهاء ټول اوه طبقي دي.

نمبر ۱- مجتهدين مطلق يامجتهدين فى الشرع: ددې طبقې اطلاق په هغوحضراتو اشمه ؤکيږي کوموچې به مستقيمًا له ادله اربعه ؤيعني (قرآن ،سنت،اجماع او قياس) څخه اصول،کليات ، جزئيات او احکام مستنبطول لکه حضرات ائمه اربعه (يعني امام ابوحنيفه ،امام مالک،امام شافعي او امام احمدبن حنبل رحمهم الله تعالى) او داسې نورددوئ ددرجې مجتهدين مثلاامام ثوری،امام اوزاعي،او ابن ابی ليلٰی وغيرهم.

نمبر ۲- مجتهدين منتسبين يامجتهدين فى المذهب: دادهغوفقهاؤنوم دی کوم چې په قواعدو او کلياتوکې دخپل استاد او مجتهد مطلق پابندوي مګرپه جزئياتو اوفرعي مسائلوکې دخپل استاد تقليدنه

كوي داحضرات كه څه هم له ادله اربعه څخه دبراه راست استفادې صلاحيت لري مګرپه اكثرو اصولوكي دخپل امام دتقليدله امله دوئ دمجتهدين فى المذهب په تولى كي راځي مجتهدمطلق نه ورته ويل كيږي مثلاً امام ابويوسف، حضرت امام محمد او دامام ابوحنيفه نورتكړه شاګردان.

نمبر ۳- مجتهدين فى المسائل :په مذهب كې څه مسائلي داسي هم وي چې دهغو په باره كې له اصحاب مذهب څخه څه صراحت نه وي نقل شوى نوكوم حضرات فقهاء چې دمذهب دقواعدواو ضوابطوپه نظركې لرلوسره دغيرمنصوصو مسائلودحكم تعين كوي هغوئ ته دمجتهدين في المسائل لقب وركول كيږي داحضرات په اصولويافرعيوه شى كې هم له خپل امام څخه دجلالاري دغوره كولوحق نه لري.ددي طبقي په حضراتوكي دامام احمدبن عمرخصاف،امام ابوجعفراحمدبن محمد الطحاوى،امام ابوالحسن الكرخى،شمس الائمه عبدالعزيز الحلوانى،شمس الائمه محمدبن سهل السرخسي،علامه فخرالاسلام على بن محمدبزدوى اوعلامه فخرالدين حسن بن منصور المعروف بقاضي خان نومونه قابل ذكردي.

نمبر ۴- اصحاب التخريج : هغه فقهاء كرام چې داجتهادصلاحيت خونه لري ليكن داصولواو مأخذونو دحفظ لوپه اساس دومره قدرت لري چې دذووجهين يامجمل قول تعين اوتفصيل وكړاى شي اودنظائر فقهيه اوقواعدمذهب په نظركې لرلوسره خپله ذمه وارى سرته ورسوي نوهغوئ داصحاب تخريج په نامه يادېږي ددي طبقي په خلكوكې دامام احمدبن على بن ابوبكرالجصاص الرازى اودده په مثل دنوروحضراتونومونه اخيستلى شو.

نمبر ۵- اصحاب الترجيح : ددي طبقي دفقهاؤ كاردادى چې دوئ په مذهب كې بعضورواياتوته په بعضونورو باندې دخپل قول هذا اولى، هذااصح،اوهذااوضح وغيره كلموپه ذريعه سره ترجيح وركوي علامه ابن كمال باشاله دي طبقي سره په نسبت درلودونكوكي امام احمدبن محمدبن احمدابوالحسن القدورى اوصاحب هدايه علامه على بن ابوبكرالمرغينانى شماركړي دي.

نمبر ۶- مقلدين اصحاب تمييز:ددي حضراتوكارصرف دومره ده چې دوئ دمذهب دمضبوطواو كمزورو رواياتوفرق اوامتياز كوي اوظاهرالرواية ،ظاهرمذهب اوروايات نادره ورمعلوم وي .اكثر اصحاب متون له دي طبقي سره تړاولري مثلاًصاحب كنزالدقائق علامه عبدالله بن احمد النسفى او صاحب مختارعبدالله بن محمودالموصلى اوصاحب وقايه تاج الشريعة محمودبن صدرالشريعة اوصاحب مجمع الانهراحمدبن على المعروف بابن الساعاتى وغيره داحضرات په خپلوتصنيفاتوكي دمردودواو غيرمعتبرو اقوالوله نقل كولوڅخه احترازكوي.

نمبر ۷- غيرمميزمقلدين: كوم حضرات چې دتيروشووطبقوڅخه ديوې ذمه وارى داخيستلواهليت هم نه لري هغوئ په اومه طبقه كې دي په حقيقت كې داخلګ فقيه نه دي بلكه محض دفتاواوو ناقلين دي دنن صباداكثرومفتيانوتعلق له همدې طبقي سره ده ځكه نوددي طبقي په خلكوپوره احتياط لازم ده ترڅوچې مسئله ښه منقحه نشي ترهغوبايددوئ له ځواب وركولوڅخه ځان وساتي.

مګرپه پورته ذکرشوی تقسیم وروستنیو فقهاوو اشکالونه کړي دي چې ابن کمال باشا دځینو فقهاوو درجه کښته کړي ده اودځینویې لوړه کړي ده مثلاً دامام ابویوسف او امام محمدپه مجتهدفی المذهب کې شمارل صحیح نه دی ځکه چې په دوئ کې دمطلق اجتهادصلاحیت وو اودوئ درجه که ترامام مالک اوشافعی پورته نه ده نوکښته هم نه ده او دوئ په اصولواوفرعودواړوکې له امام ابوحنیفه سره اختلاف کړی دی تردي چې امام غزالی په خپل کتاب المنخول کې فرمایي چې امام ابویوسف اوامام محمدله امام ابوحنیفه سره د ده دمذهب په دوثلثو کې اختلاف کړی دی.

دابن کمال باشاد امام خصاف،امام طحاوی اوامام کرخی په باره کې داوینا چې هغوئ په فروعو اواصولو هیڅ شی کې هم دامام صاحب څخه مخالفه رأیه نشي غوره کولی دواقعي څخه خلاف ده هغوئ په ډیرو مسائلو کې له امام صاحب څخه خلاف رأیه غوره کړي ده.

امام ابوبکرجصاص رازی په دي تقسیم کې له درجې داجتهاد څخه بالکل ایستل شوی دی داله نوموړي سره ډیرلوی ظلم دی چې دهغه ښه اندازه دهغه له بلندپایه علمی اوفقهی تصنیفاتو څخه لګول کیدای شي اوشمس الائمه حلوانی وغیره کوم چې ابن کمال باشاپه مجتهدینو کې شمارکړي دي هغوئ ټول دابوبکر جصاص دشاګردانوشاګردان دي په دي تقسیم کې صاحب هدایه اوامام قدوری په اصحاب تخریج کې اوقاضی خان په مجتهدینو کې شمارشوی دی حال داچې ددوئ دواړودرجه په هرحال کې له قاضی خان څخه لوړه ده.

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی دفقهاؤو دري طبقي بيان کړي دي

/**نمبر ۱- مجتهدمطلق مستقل**: یعنی هغه شخص چې په فقاهت نفس ،سلامتی طبع ،بیدار مغزی ددلائلوپه معرفت داستنباط په صلاحیت اوپه جزئیاتو کې تعمق په مثل په لوړوصفاتومتصف وي لکه حضرات ائمه اربعه.

نمبر ۲-مجتهدمطلق منتسب یعنی هغه مجتهدکوم چې په ائمه متبوعینو کې یوه ته منسوب وي لیکن هغه په مذهب اودلیل کې دهغه امام مقلدصرف نه وي بلکه محض په اجتهادکې دخپل امام دطریقي په اختیارولوسره دهغه نسبت هغه مذهب ته کیږي لکه امام ابویوسف امام محمد اودامام ابوحنیفة نورتکړه شاګردان.

نمبر ۳- مجتهدفی المذهب: دهغه کس ته ویل کیږي چې دیوه امام پابندوي مګرله دي سره سره دخپل امام دمقررو اصولواوضوابطوپه دائره کې دننه ددلیل په رڼا کې دخپلو اصولو دمقررولو صلاحیت هم لري ترڅود غیرمنصوصو مسائلو دحکمونوپه تعین کې اساني وي اوددموقع مطابق دضرورت وغیره خیال ساتلی شي په داسي شخص کې دالاندنی صفات ضروری دي (۱)دمذهب په اصولوبه علم لري(۲)په تفصیلی دلائلوبه علم لري(۳) قیاس اودمعانیوپه ادراک به پوره بصیرت لري (۴)دخپل امام په اصولوبه دتخریج اواستنباط صلاحیت اومهارت لري ، په دي طبقه کې ډیرعلماء اوفقهاء شاملیدای شي اوتقریباپه هره زمانه کښ ناڅه خلک دغه صلاحیت لرونکي موجودوي. حضرت شاه صاحب دمجتهدمطلق په

دودرجوکولوسره دحضراتو صاحبینوپه درجه پیداشوي سوال بالکل ختم کړ اوهمداسې یې داصحاب التخریج اوترجیح تحدید ختم کړ ځکه چې دفقهاؤ دکار مختلف دولونه دي دیوي طبقي خلک په یوځای کې دتخریج کارکوي اوپه بل ځای کې بیادترجیح خدمت هم سرته رسوي اوکله کله په دوئ کې داجتهادشان هم څرګندیږي. (ملخص ازفتوی نویسي کی رهنمااصول ص۵۰ تر۵۵).

دفقهاؤ یوبل تقسیم: دحنفي مذهب بعضو مؤرخینو دفقهاء مذهب دري طبقي بیان کړي دي. **نمبر ۱- سلف**: له دې څخه دصدراول دمذهب فقهاء مراددي کوم چې له امام ابوحنیفة رحمه الله څخه شروع اوپه امام محمد رحمه الله ختمیږي. **نمبر ۲-خلف**: له خلفو څخه مرادهغه فقها دي چې له امام محمد رحمه الله څخه وروسته شروع کیږي اوپه امام شمس الائمه الحلوانی رحمه الله باندې ختمیږي. **نمبر ۳-متاخرین**: له دوئ څخه هغه فقهاء مراددي چې له شمس الائمه څخه شروع کیږي اوپه حافظ الدین محمدبن نصرابو الفضل ختمیږي.

لیکن داتقسیم متفق علیه نه دی بلکه دبعضونوروپه نزد متقدمین هغه دي چې کوموداثمه ثلاثه (امام ابوحنیفة امام ابویوسف اوامام محمد رحمهم الله)زمانه پیداکړي وي اومتأخرین هغه دي کوم چې داثمه ثلاثه له زماني وروسته دي دغه وجه ده چې له شمس الائمه الحلوانی څخه په مخکې علماء باندې هم په کثرت سره دمتأخرینو اطلاق کیږي.

طبقات المسائل: لکه څرنګه چې علماء کرام وفقهاء په څو طبقوویشلي وو همداسې یې دمذهب مسائلي هم تقسیم کړي دي ترڅو دتعارض په وخت کې مفتی ته داعلی درجی مسئلوته په ادنی درجی مسئلوترجیح ورکول اسانه وي چنانچه دمذهب مسائلي په درو طبقوویشلي شوي دي.

نمبر ۱- مسائل اصول یاظاهرالروایة: داهغه مسائلي دي چې له اصحاب مذهب څخه په ظاهرالروایة کتابونوکې نقل شوي وي ظاهرالروایة دامام محمدشپږکتابونه دي الجامع الصغیر، الجامع الکبیر، السیر الصغیر، السیرالکبیر، المبسوط اوالزیادات، دغومسائلوته ظاهرالروایة په دې وجه ویل کیږي چې له امام محمد څخه ثقه راویانونقل کړي دي کوم چې دتواترياشهرت درجی ته رسیږي دمسائلو دادرجه ترټولولوړه اوقوی ده.

نمبر ۲- غیرظاهرالروایة یاروایة النوادر: داهغه مسائلي دي چې د امام محمد په دغومذکوره شپږو کتابونوکې نه وي بلکه دامام محمدپه نوروکتابونوکې ذکرشوي وي لکه کیسانیات (دادهغه مسائلومجموعه ده دامام محمد رحمه الله شاګردسلیمان بن شعیب روایت کړي دي) هارونیات(داهغه مسائل دي چې امام محمد رحمه الله دهارون رشیدپه زمانه کې جمع کړي دي)جرجانیات (داهغه مسائل دي چې امام محمدپه جرجان کې جمع کړي دي)رقیات (داهغه مسائلي دي چې امام محمددرقه په ښارکې دقضاوت په دوران کې مدوني کړي دي) همدارنګه دامام ابویوسف امالی اودحسن بن مجرداونوررروایات مفرده متفرقه چې له محمدبن سماعة،معلی بن منصوراوهشام بن رستم وغیره څخه مروی دي داهم غیرظاهرالروایات مسائل دی ددي طبقي درواياتو درجه له ظاهرالروایة څخه کمه ده نو لهذاکه ددوئ تعارض له ظاهرالروایة سره راغی نوظاهرالروایة ته به ترجیح ورکول کیږي.

نمبر ۲- الفتاوى يانوازل يلواقعات : داهغه مسائلي دي چې دهغومتعلق په ظاهرالرواية اونادر الرواية كې له متقدمينو اهل مذهب څخه كوم حكم شرعى نه وي نقل شوي اوورستنيوعلماؤو دمجتهدينو داصولوپه رڼا كې دهغواستنباط كړى وي .

حضرت شاه ولى الله فرمايې چې داحنافودمسائلوڅلورطبقي دي .

نمبر ۱- ظاهرمذهب: يعنى هغه مسائلي چې له اصحاب مذهب څخه په مشهوره اومعروفه طريقه روايت شوي وي دغه مسائلي فقها، په هرحال كې قبلوي .

نمبر ۲-روايات شاذه: يعنى هغه مسائلي كومي چې له اصحاب مذهب څخه په شاذ روايتونو منقولي وي دغه روايات فقها، په هغه وخت كې قبولوي كله چې له ظاهرمذهب سره برابروي .

نمبر ۳- تخريجات متاخرين (متفقه): يعنى هغه مسئلي دكومودتخريج كارچې اصحاب مذهب نه بلكه متأخرينوكړى وي اوجمهورفقهاؤ پرې اتفاق كړى وي په دې قسم تخريجاتوپه هرحال كې فتواوركول ضروري ده له دوئ څخه صرف نظرنشي كيدلاى .

نمبر ۴- تخريجات متاخرين (مختلف فيه):يعنى دمتأخرينوداسي مستخرجي مسائلي په كوموچې جمهوراهل مذهب متفق نه وي دامسئلي په اصول مذهب،ظاهرمذهب،نظائرمذهب اودسلفوپه تصريحاتوعرض كيږي كه له هغوئ سره موافقي وي نودقبول وړدي اوكه مخالفي وي نوپرېښودل كيږي به .(ملخص ازفتوى نويسي كى رهنمااصول)

دمذهب په رواياتوكې دترجيح اصول :كه په مسئله كې مختلف روايات راغلي وو نوپه هغو دترجيح اصول په لاندي ډول دي .الف: كه امام صاحب اوا وصاحبين په يوه ځواب سره متفق وو نودعرف اوضرورت ماسوا يوه مقلدته هم له دي متفقه مسئلي څخه دعدول اجازه نشته .

ب: دامام صاحب سره كه له صاحبينو څخه يوهم متفق وو نوپه دې صورت كې هم دامام صاحب قول راجح دى .

ج:كه دامام صاحب اوپه صاحبينوكې دهريوه قول جلاجلا وو نوبيابه هم دامام صاحب قول ته ترجيح وركول كيږي .

د:كه امام صاحب يوطرف ته اوصاحبين دواړه بل طرف ته وو نوپه دې صورت كې عبدالله بن مبارك مطلقاً دامام صاحب دقول دترجيح خبره كړې ده اوبعضوپه دې صورت كې مفتى ته مطلقاً اختيار وركړى دى كه مجتهدوي اوكه نه وي اوحضرات محقيقينو داتحقيق كړى دى چې كه مفتى مجتهدوو نوده لره اختيارشته اوكه مفتى غيرمجتهدوو نوهغه به دخپل امام پابندوي دااخرى رأيه په اصل كې داولي اودوهمي رأي په منځ كې دتطبيق يوشكل دى چې دعبدالله بن مبارك قول له مفتى غيرمجتهد سره متعلق دى اود بعضونوروقول په مفتى مجتهدپسي خاص دى په داعتباربه په دواړوقولونوكې تعارض رانشي ځكه چې ددواړه محمل جلاجلا دى داټول تفصيل هغه وخت دى چې ورستنيو مشائخو دكوم ضرورت

ياغيره په بنياددصاحبينويابل چاپه مسلک فتوانه وي ورکړي اوکه يې فتوا ورکړي وه لکه په ظاهرعدالت دقضانه کولو مسئله نويابه دمشائخوپه ترجيحاتوعمل کيږي . (ازفتوی نويسي کي رهنمااصول)

په عباداتوکې دامام ابوحنيفة ﷫ قول عموماراجح ګڼل کيږي الاکه چيري دامام صاحب په کوم مرجوع عنه قول مشائخو دفتوی صراحت کړی وو اوامام ابويوسف ﷫ څرنګه تر ديره وخته په منصب قضاباندې فائزوو په کوم کې چې ده ته زيات مهارت حاصل ده ځکه نوپه قضااودهغې په متعلقاتودامام ابويوسف قول ډيرمعتبرګڼل کيږي اوپه توريث ذوی الارحام اوتولونښه لرونکوشرابو کې به دامام محمد ﷫ په قول فتوی ورکول کيږي اوکه له يوه امام څخه په يوه مسئله کې مختلف روايات منقول وي نوکوم روايت چې ددليل په اعتبارډيرمضبوط وي نو هغه به غوره کيږي .

دمتاخرينوپه رواياتو کې دترجيح اصول: له ائمه مجتهدينو څخه چې کله ديوې مسئلې په باره کې کوم صريح روايت منقول نه وي اودمتأخرينوراَيې هم مختلفې وي نوضابطه داده چې اکابرفقهاء متأخرين مثلاامام طحاوی، ابوحفص کبير اوابوالليث سمرقندی وغيره اکثريت چې دکوم حکم طرف ته مايل وي نوپه هغه به فتوی ورکول کيږي .

اوله اصول ترجيح څخه داهم ده چې په کوم قول باندې متون متفق وي نه هغه معتمدعليه وي ځکه چې علماء صراحت کړی دی چې که دمتن دمسئلې اودفتاوی دمسئلې ترمنځ تعارض وي نودمتن مسئلې ته به ترجيح ورکول کيږي اوهمداشان که که دشروحاتواوفتاوی دمسئلوترمنځ تعارض وونودشروحاتومسئلې ته به ترجيح ورکول کيږي .

دمتأخرينوپه اصطلاح کې چې کله دمتون لفظ ويل کيږي نوله دي څخه صرف دمتونومعتبر کتابونه مراديږي دکوموچې نومان دادي هدايه ، مختصرالقدوری ،مختار،النقايه، وقايه، كنزالدقائق ، ملتقى الابحر، مجمع الانهر،اوتحفةالفقهاء اوله متون ثلاثه څخه وقايه، كنزالدقائق اومختصرالقدوری مراددي .

الفاظ تصحيح : دکوم قول دتصحيح دپاره فقهاء مختلف الفاظ ليکي **مثلاًنمبر ۱**- عليه عمل اليوم، عليه عمل الامة ، **نمبر ۲**- عليه الفتوی، به يفتی، عليه الاعتماد، به ناخذ، هوفتوی مشائخنا، هوالمختارفي زماننا، **نمبر ۳**-الفتوی عليه هوالاصح، هوالاشبه، هوالاوضح، هوالاظهر، هوالاحوط، هوالاوفق ، **نمبر ۴**- هوالاحتياط، هوالصحيح په دوئ کې اول قسم اودوهم قسم الفاظ زيات مؤکددي له دوئ وروسته ددريم اوڅلورم درجه ده دتعارض په وخت کې عموماددي ترتيب لحاظ کيږي اوکه تعارض نه وي نومحض تصحيح کافي ده . (فتوی نويسي کی رهنمااصول)

څيني فقهي اصطلاحات: احکام شرعيه په پنځه قسمه دي .

نمبر ۱- فرض :- فرض هغه حکم ته ويل کيږي چې له داسې قطعي دليل څخه ثابت وي چې په هغه کې دشک اوشبه ګنجايش نه وي لکه دپنځه وخته فرض لمنځونو دفرضيت حکم چې له قرآن اواحاديثو څخه ثابت دی اوهمداشان دزکوة روژي اوحج عبادتونه دي .

دفرض حکم : کوم شی چې فرض وي دهغه حکم دادی چې په هرمکلف شخص باندې لازمه ده چې دهغه شی فرضيت دزړه له کومي ومني اوپه هغه عمل وکړي نوکه کوم شخص دهغه شی له فرضيت څخه انکاروکړي

نو دي شخص ته کافر ویل کیږي او که کوم شخص په زړه کې د هغه شي د فرضیت عقیده ولري مګر عمل نه پري کوي نو ده ته فاسق ویل کیږي او د سخت عذاب مستحق ګرځي .

شرط او رکن :بعض وختونه فرضو ته شرط ویل کیږي او بعض وختونه فرضو ته رکن ویل کیږي د دي تفصیل دادی چې که فرض د مقصود شي په ذات کې داخل نه وو نو ده ته شرط ویل کیږي او که فرض د مقصود شي په ذات کې داخل وو نو ده ته رکن ویل کیږي داخبره له د مثاله په اساني سره فهمیدای شي چې طهارت دلمانځه لپاره فرض ده مګر طهارت په لمانځه کې داخل نه ده نو ده ته به شرط وایو اوهمداشان رکوع او سجده په لمانځه کې فرض دي او رکوع او سجده دلمانځه په ذات کې داخل دي نو لهذا رکوع او سجدي ته به رکن وایو.

دفرضو دو قسمونه نور هم شته ،فرض عین او فرض کفایه

فرض عین : فرض عین هغه حکم ته ویل کیږي چې دهغه کول په هرمکلف شخص لازمي وي او د بعضو خلګو په کولو سره د نورو ذمه واري نه ختمیږي لکه فرض لمنځونه او درمضان روژي

فرض کفایه:فرض کفایه هغه حکم دی چې دهغه کول په ټولو خلګو فرض وي لیکن په داسي ډول چې که بعض خلګ هغه کار وکړي نو دبقیه خلګو ذمه واري هم ختمیږي او که یو شخص هم هغه کار ونه کړي نو ټول به ګناهګار شي ددي په مثال کې ډیر حکمونه وراندي کولی شو په کوموکې بعض خالص دیني احکام دي او بعض دونیوي او بعض دیني هم او دنیوي هم دي .

دخالص دیني حکم مثال مړی ته غسل ورکول ،په هغه دجنازي لمونځ کول او دمړی تدفین کول او همداشان دقرآن کریم ساتنه داټول فرض کفایه دي او ددنیوي حکم مثال لکه هغه صنعتونه کول کوموته چې دخلګو ضرورت پیښیږي مثلا زراعت کول وغیره وغیره داټول فرض کفایه دي او دهغه حکم مثال چې دیني هم وي او دنیوي هم وي لکه امربالمعروف اونهی عن المنکر یعنی دښو کارونو دکولو حکم ورکول او له بدو کارونو څخه راګرزول دافرض کفایه دي همداشان دالله تعالیٰ ﷻ په لاره کې جهاد کول ترڅو چې دامیرله لوري عام اعلان نه وي کړل شوی فرض کفایه دی او همداشان د ویډونکی بچاوول او اورمرکول داټول فرض کفایه دي .

نمبر ۲-واجب: داهغه حکم دی چې له دلیل ظني څخه ثابت وي دلیل ظنی له قطعي دلیل څخه کمزوری وي یا خوله دي وجهی چې خپله دده په ثبوت کې شبه وي او یادهغه دلیل پرفرضیت دحکم باندی شبه وي مثلا وتر لمونځ واجب دی فرض نه دی دوتر و دلیل چې کوم حدیث دی هغه خبرواحد دی ځکه نو دادلیل دومره مضبوط نه دی لکه څومره چې دلیل قطعي مضبوط وي لهذا له دي دلیل څخه ثابت شوی شی ته به فرض نه بلکه واجب ویل کیږي .

دواجبو حکم: دواجبو حکم دادی چې په هرمکلف باندي یې کول لازمي دي لیکن په زړه کې ددي لزوم عقیده لرل ضروري نه ده ځکه چې داله دلیل ظني څخه ثابت ده او دا اعتقاد لزوم له قطعي دلیل څخه ثابتیږي نو دواجبو انکار کونکي ته کافر نشي ویل کیدای.

واجب هم په دوه قسمه دي واجب عين واجب كفايه .
واجب عين: واجب عين هغه دي چې كول يې په هرمكلف ضروري وي لكه وترلمونځ اوصدقه فطر،داختر لمونځ اوقرباني
واجب كفايه، واجب كفايه هغه دي چې كول يې په هرمكلف ضروري وي ليكن په داسې ډول چې دبعضو په كولوسره دټولوغاړي خلاصيږي البته ثواب صرف كونكوته وركول كيږي مګركه ټولوهغه كارپريښودنو بياټول ګناهګاردي ددي مثال دادی چې كه ډيروخلګوته څوك سلام وراواچوي نودسلام ځواب وركول په هريوه ضروري دی ليكن كه يوځواب وركړي نودټولوله ذمې څخه واجب ختم شوالبته ثواب صرف ځواب وركونكي ته وركول كيږي .
نمبر ۲- سنت: سنت هغه حكم ته ويل كيږي چې زموږ له ګران اومحبوب پيغمبرمحمد ﷺ څخه ثابت وي.
سنت هم پردوه قسمه دي سنت مؤكده ،سنت غيرمؤكده
سنت مؤكده : هغه حكم دی چې په هغه نبي كريم ﷺ هميشه عمل كړی وي اوخلګوته يې هم په هغه دعمل كولوترغيب وركړی وي مثلاداوداسه په شروع كې مسواك وهل ،دجمعې په ورځ غسل كول ،په جمع لمونځ كول ،اوشل ركعته تراويح كول .دسنت مؤكده حكم دادی چې كونكی ته ثواب وركول كيږي اوپه نه كولويې ګناه نشته ليكن پريښودنكی يې دكراهت تنزيهي مرتكب ګرځي په دي معنی چې دسنتومؤكده پريښودل دحراموپه نسبت حلالوته ډيرنژدي ده البته ددي له پريښودلوڅخه ځان ساتل په شريعت كې مطلوب دی اوكول يې اتمام دين دی اوبلاعذرپريښودل يې ګمراهي ده .
سنت غيرمؤكده : دي ته مندوب اومستحب هم ويل كيږي داهغه عمل دی چې نبي كريم ﷺ په بعضووختونه كې كړی وي اوخلګو ته يې ترغيب هم وركړی وي لكه داوداسه په وخت كې قبلې ته مخ ګرځول اوداذان په وخت كې دكاراو خبروموقوفول داذان داوريدو لپاره اود مؤذن ځواب وركول په هغوالفاظوسره چې هغه يې وايي اوهمداشان داوداسه اعمال له راسته طرفه كول اوكالي له له راسته طرفه اغوستل اوله داسې ټولی سره چې په عمراو درجوكې سره برابره وي له راسته طرفه مصافحه كول اوكه دمختلفودرجو خلګ وونوله افضل څخه شروع كول دسنت غيرمؤكده حكم دادی چې كونكی يې دثواب مستحق جوړيږي اوپريښودونكي يې ګناهګارنه دي كه څه هم هغه په خپله خپل ځان له غټ خيراواجراوفضيلت څخه محروم كړی دی.
دسنتودوقسمونه نورهم شته سنت عين ،سنت كفايه
سنت عين: سنت عين هغه دي چې كول يې دهرمكلف لپاره مسنون وي لكه دلمانځه سنتونه، دجمعې غسل، داخترغسل، اودلمانځه وروسته اذكار.
سنت كفايه: سنت كفايه هغه سنت دي كول يې دهرچالپاره سنت وي ليكن كه بعض خلګ په هغه عمل وكړي نودنوروڅخه دهغه مطالبه ختميږي مګرثواب صرف كونكې ته وركول كيږي لكه درمضان په اخري عشره كې په مسجدكې اعتكاف كول.

نمبر ۴- حرام: دکوم شي حرمت که له قطعي دليل (يعنی آيات يا احاديث صحيحه متواتره) څخه ثابت وونو هغه ته حرام ويل کيږي لکه لمونځونه له خپل وخت څخه مؤخر کول، درواغ ويل، دچا په حق ورکولو کې باڼې ماڼې کول، دچا مال غصب کول، په خلکو ظلم کول، غلا کول، شراب څښل، سود خوړل، لمونځ پريښودل وغيره وغيره ټول حرام دي.

دحرامو حکم: دحرام کارکونکی دسخت عذاب مستحق دی او نه کونکی يې دثواب مستحق دی.

مکروه: مکروه احکام پردوه قسمه دي، مکروه تحريمي، مکروه تنزيهي

مکروه تحريمي: مکروه تحريمي هغه دی چې له هغه څخه شريعت منع کړي وي ليکن دليل يې ظني وي خبرواحد وي لکه دمازديګرلمونځ ځنډول دلمرترژړيدلو پورې يالکه تقاضاحاجت سره لمونځ کول ياله يوچاڅخه په غصب شوي ځکمه لمونځ کول ياپه غصب شويوجامو کې لمونځ کول يادکوچني اختريا لوی اخترپه ورځ روژه نيول يادسپينويا سروزرو دلوښو استعمالول دا ټول مکروه تحريمي دي.

مکروه تنزيهي: له کوم کارڅخه چې شريعت نفرت ورکړی وي مګردکونکې لپاره يې دڅه سزاذکرنه وي کړی نودداسي کارکونکی ګواکې حراموته په نسبت حلالوته ډيرنژدې وي مثلاً په اوداسه کې داوبو په استعمال کې اسراف کول، دجمعې دورځې غسل نه کول، په اوداسه کې مسواک نه وهل، اويابسم الله نه ويل.

دمکروه تنزيهي حکم: دمکروه تنزيهي حکم دادی چې نه کونکی يې دثواب مستحق دی اوکونکی يې دعذاب مستحق نه دی.

نمبر ۵- مباح: مباح هغه عمل دی دکوم چې شريعت نه دکولو حکم کړی وي اونه يې دنه کولو حکم کړی وي لکه خوړل، څښل، ولاړيدل کښينستل اخيستل خرڅول وغيره وغيره.

دمباح حکم: دمباح حکم دادی چې نه په ده کې ثواب شته اونه عذاب اوانسان ته پکې اختيار دی که يې خوښه وه ودي کړي اوکه يې خوښه وه نه دي کوي البته داسي کارکه په ښه نيت سره وکړل شي نوکونکی داجرمستحق ګرځي په دي صورت کې دامباح کاردمستحب درجې ته پورته کيږي لکه دميلمه دعزت دپاره خوراک له ده سره يوځای خوړل ياپه ورځ کې په دي نيت ويده کيدل چې دشپې عبادت وکړای شي ياښې جامې په دي نيت واغوستل شي چې دالله تعالی ﷻ دنعمتونو اثرښکاره شي.(مقدمه المعتصر الضروری)

فوائدمتفرقه

فائده: داحنافوپه کتابونوکې چې په کوم ځای کې حسن ذکرشوي وي نوله هغه څخه دامام ابوحنيفه شاګرد امام حسن بن زياد رحمه الله مرادوي اودتفسيرپه کتابونوکې مطلق ذکرشوي وونوله هغه څخه حسن بصری رحمه الله مرادوي.

فائده: الامام ياالامام الاعظم که داحنافوپه کتابونوکې ذکرشوي وونوله هغه څخه امام ابوحنيفه رحمه الله مرادوي اوله صاحب المذهب څخه هم امام ابوحنيفه رحمه الله مرادوي.

فائده: لهٔ صاحبینو څخه مراد امام ابویوسف رحمه الله او مام محمد رحمه الله وي او له شیخینو څخه امام ابوحنیفه او امام ابویوسف اوله طرفینو څخه امام ابوحنیفه اوامام محمد مرادوي اوله الامام الثانی څخه امام ابویوسف رحمه الله اوله الامام الربانی څخه امام محمد رحمه الله مرادوي.

فائده: لـه عندائمتنا الثلاثـه څخـه مراد امـام ابوحنیفـه ،امـام ابویوسـف او امـام محمـد وي اولـه الائمـة الاربعة څخه مراد امام ابوحنیفه ،امام مالک،امام شافعي او امام احمد بن حنبل وي.

فائده: دفقهاؤ په قول هذاالحکم عنده یاهذامذهبه کې که دهاء ضمیرمرجع مخکې نه وه ذکرشوي نوله دي څخه به مراد امام ابوحنیفه وي ځکه چې هغه حکماً مذکوردی اوهمدا شان دعندهما ضمیرمرجع که مخکې نه وه ذکرشوې نوله دي څخه به صاحبین مرادوي اوکله له دي څخه امام ابوحنیفه اوامام ابویوسف یاامام ابوحنیفه اوامام محمدوي مګرپه دي شرط چې په ائمه ثلاثه کې ددریم ذکروړاندې ددي حکم په خلاف کې شوی وي مثلاً داشان عبارت وي قالوا عندمحمد کذا وعندهماکذانوپه دي وخت کې له هماضمیر څخه امام ابوحنیفه امام ابویوسف مرادوي.

فائده: کله دفقهاؤ په عبارت کې دعنده یاعنه لفظ ذکرشوی وي مثلاً وایې هذاعندابی حنیفه وعنه کذا نوداول مطلب دادی چې داامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دی اودوهم مطلب دادی چې داله امام ابوحنیفه رحمه الله څخه یوروایت دی.

فائده: دمکروه یایکره لفظ که دفقهاؤ په عبارت کې مطلق ذکرشوې وولـه دي څخه مرادکراهت تحریمي وي الاپه هغه صورت کې دچې دمکروه تنزیهي تصریح وشي اویادکراهت تنزیهي په مرادوالی باندې کوم دلیل موجودوې.

فائده: کله دسنت لفظ ذکرکیږي اوله هغه څخه مراداستحباب وې اوکله ددي برعکس مستحب ذکرکیږي اومرادورڅخه سنت وي کوم چې له حالی یامقالی قرائنو څخه معلومیږي اوکله واجب ذکروي مګرله هغه عامه معنی مرادوي کومه چې فرضوا وواجبودواړوته شامله ده.(مقدمه شرح الوقایه)

فائده: کله دیجوزلفظ استعمالیږي مګرمرادتري هغه شی وي کوم چې شرعاًممنوع نه وي لهذا داواجب،مندوب ،مباح اومکروه ټولوته شامل وي همدا وجه ده چې په مکروه طریقه لمونځ اداء کولوته ځیني وختونو دجاز لفظ استعمالیږي نوله دي څخه مرادنفس صحت وي بغیرله دي چې دکراهت لحاظ وکول شي.

فائده: دینبغی لفظ متاخرینو په عرف کې ډیرپه مندوباتو کې استعمالیږي مګردمتقدمینو په عرف دعامه معنی لپاره استعمالیږي کومه چې واجبوته هم ورشامله ده.

دشرعی اوزانو تفصیل

یوملیون لس لکه

زرملیونه یوبلیون

لس لکه ملیونه یازرملیونه یوترائلین

رتي داتودانووريجوپه اندازه وزن
ماشه اته رتۍ
توله دولس ماشي
طسوج تقريباپاوكم يوه رتۍ ، په اصل کې طسوج دوه اوربشي دي اويوه رتۍ له دريواوربشوڅخه لږکمه ده .
قيراط تقريباپاوكم دوه رتۍ دفقهاؤ دتصريح مطابق يوقيراط پنځه اوربشي او څوارلس قيراطه يودرهم دی درهم پنځه ويشت رتۍ دی .
دانق يادانگ تقريبا اوه رتۍ ، اصل دادی چې دانق څلورقيراطه دی اويوقيراط پاوكم دوه رتۍ ده نو څلورقيراطه اوه رتۍ شوو .
درهم دري ماشي يوه رتۍ اودرتۍ پنځمه حصه وي دفقهاؤدوينامطابق ددرهم وزن اويااوربشي دی په ماشه چې وزن شي نو همدااوزن جوړيږي
مثقال څلورماشي اوڅلوررتۍ وي دمثقال وزن دفقهاؤ دتصريح مطابق سل اوربشي دی زموږپه اوزانو هم دغه وزن جوړيږي
رطل څلوردېرش تولي يونيمه توله دشامي وغيره دتصريح مطابق درطل وزن يوسل اوديرش درهمه دی چې دتولي په حساب يې هم همدا وزن راوځي .
مد اته شپيته تولي دري ماشي دشامي دقول مطابق دمدوزن دوسوه درهمه دي چې دتولي په حساب يې هم همدا وزن راوځي .
من اته شپيته تولي دري ماشي دشامي دقول مطابق دمدوزن دوسوه درهمه دي چې دتولي په حساب يې هم همدا وزن راوځي .
استار ددرهم په حساب يوه توله اته ماشي دوه تقسيم په دريورتيو يواستارشپږدرهمه ده او همدا وزن يې راوځي .
اوقيه لس نيمي تولي ددرهم په اعتبارداوقيي وزن حسب تصريح فقهاء څلويښت درهمه دی دكومې چې هندی وزن هم همدا دی .
صاع ددرهم په حساب ۲۷۰ تولي اودمثقال په حساب ۲۷۳ تولي
نصف صاع ددرهم په حساب ۱۳۵ تولي اودمثقال په حساب ۱۳۶ تولي او ۶ ماشي
وسق ددرهم په حساب پنځه منه دوه نيم سيره په ۸۰ توله سيرباندي اودمثقال په حساب پنځه منه پاوكم پنځه سيره .
مساحات شرعيه وهنديه
نوانج يوه لويشت
دوه لويشتي يااتلس انچه يولاس يايوشرعي گز

مثقال څلور ماشې او څلور رتې وي دمثقال وزن دفقهاوؤ دتصریح مطابق سل او ربشې دی زموږ په اوزانو هم دغه وزن جوړیږي

رطل څلور دیرش تولې یونیمه توله دشامي وغیره دتصریح مطابق درطل وزن یوسل او دیرش درهمه دی چې دتولې په حساب یې هم همدا وزن راوځي.

مد اته شپیته تولې دري ماشې دشامي دقول مطابق دمد وزن دوسوه درهمه دي چې دتولې په حساب یې هم همدا وزن راوځي.

من اته شپیته تولې دري ماشې دشامي دقول مطابق دمد وزن دوسوه درهمه دي چې دتولې په حساب یې هم همدا وزن راوځي.

استار ددرهم په حساب یوه توله اته ماشې دوه تقسیم په دریورتیو یو استارشپږدرهمه ده او همدا وزن یې راوځي.

اوقیه لس نیمې تولې ددرهم په اعتبارداوقیې وزن حسب تصریح فقهاء څلویښت درهمه دی دکومې چې هندی وزن هم همدادی.

صاع ددرهم په حساب ۲۷۰ تولې او دمثقال په حساب ۲۷۳ تولې

نصف صاع ددرهم په حساب ۱۳۵ تولې او دمثقال په حساب ۱۳۶ تولې او ۶ ماشې

وسق ددرهم په حساب پنځه منه دوه نیم سیره په ۸۰ توله سیرباندي او دمثقال په حساب پنځه منه پاو کم پنځه سیره.

مساحات شرعیه وهندیه

نوانح یوه لویشت

دوه لویشتې یااتلس انچه یولاس یایوشرعی گز

دوه لاسه یوانگریزي گز

یوانگریزي گز دري پوټه یاشپږدیرش انچه

یوفټ دولس انچه

ذراع مساحت (دځمکې اوغیره دناپول شرعی گز) یوانگریزی گز اوشپږانچه یادري نیم فوټه یادوڅلویښت انچه

ذراع کرباس (دجامودناپولو شرعی گز) نیم انگریزي گز یایونیم فوټ یااتلس انچه

شرعی میل څلورزره شرعی گزه یادوزره انگریزي گزه

انگریزي میل اته فرلانگه اوهرفرلانک دوه سوه شل انگریزي گزه نوانگریزي میل اولس سوه شپیته انگریزي گزه شو اودااهم معلومه شوه چې شرعی میل له انگریزي میل څخه دوسوه څلویښت انگریزي گزه لوی دی.

فرسخ دري میله مسافې ته فرسخ ویل کیږي

بريد څلور فرسخه يادولس ميله مسافه
ميټريو گزاو پاو بالادري انچه پيمانې ته ميټرويل کيږي (مأخوذ ازجواهر الفقه بتغيير)

دكنزدالدقائق دمصنف پيژندنه

نوم ،نسب اوسکونت : دکنزالدقائق دمصنف نوم عبدالله اوکنيت يې ابوالبرکات اودپلارنوم يې احمداودنيکه نوم يې محموددی دنسف (بفتحتين)اوسيدونکی وو کوم چې په ماوراء النهرکې دجيحون اوسمرقندپه منځ ديوه لوی ښارنوم دی په کوم کې چې دهرفن ډيرماهرين پيداشوي دي دهمدې نسبت له امله دکنزالدقائق مصنف ته نسفی ويل کيږي دی ډيرعابد ،متقی ،امام کامل ،په خپله زمانه کې عديم النظير،فقه ،اصول فقه اوحديثوکې يگانه روزگار اودمشهورمتن ليکونکو مصنفينوپه قطارکې راځي.

دينې زده کړې :امام نسفی رحمه الله له ډيروجليل القدراولورمرتبولرونکومحدثينواوفقهاء شمس الائمه محمدبن عبدالستار کردری،حميدالدين ضرير ،اوبدرالدين خواهرزاده وغيره څخه دينې علم حاصل کړی دی اوله ده څخه علامه سغناقی وغيره سماع کړي ده .

دجواهردمصنف غلطي: دجوهرمضيه مصنف دعين ترحرف لاندې دامام نسفی يادونه کړې ده اوويلي دي چې امام موصوف علم فقه له علامه کردری څخه زده کړې ده اوله احمدبن محمدالعتابی څخه يې زيادات روايت کړی دی ملاعلی قاري رحمه الله هم دهغه پر پله تللی دی علامه کفوی فرمايې چې دجواهر مضيه مصنف تصريح کړې ده چې علامه عتابی په کال ۵۸۶ هج کې وفات شوی دی اوامام نسفی په کال ۷۱۰ يا ۷۱۱ هج کې وفات شوی دی نودامام نسفی متوفی کال ۷۱۰ هج روايت اوسماع به له علامه عتابی متوفی کال ۵۸۶ هج څخه څرنگه صحيح شي ؟(معدن والفوائد البهيه:ص۱۰۲)

دصاحب کنزفقهي مقام :ابن کمال پاشادی په شپږمه طبقه کې شمارکړی دی کوم چې ضعيف روايتونه له قوی راواياتو څخه جلاکولی شي ددې حضراتومرتبه له مجتهدينو ،مخرجينو اومرجحينو څخه کښته ده داحضرات په خپلوکتابونوکې د ضعيفواو مردودورواياتوله نقل څخه ځان ژغوري .ځينو حضراتودی له مجتهدين فی المذهب څخه گڼلی دی اوويلي دي لکه څرنگه چې داجتهادمطلق درجه په ائمه اربعه ختمه شوه همداشان اجتهادفی المذهب پرده ختم شوقائل مذکورپه دې خبره په تفريع کولوسره داهم وايې چې په امت باندې په دوی کې ديوه تقليدواجب دی علامه بحرالعلوم دتحرير الاصول اومسلم الثبوت په شرحوکې داقول ردکړی دی اوويلي دي داهيڅ کله دمنلوړنه دی بلکه داقول بې له شک اوشبه رجماًبالغيب دی .(معدن وطرب الاماثل:ص۱۰۱)

دامام نسفی علمي کارنامې:امام نسفی له لويودرجه لرونکومصنفينوڅخه دی په ځانگړې دول متن ليکل خورده دافتخاردخولی لپاره دامتيازتغمه ده په فروعوکې متن وافی اودهغه شرح کافی اوپه فقه کې مشهورمتن کنزالدقائق اوپه اصولوکې متداول اومقبول متن المناراودهغه شرح کشف الاستار،

المستصفى شرح النافع ،المصفى فى مختصر المستصفى ،اعتمادشرح الاعتقاد اومدارک التنزيل وحقائق التاويل وغيره دده علمي يادگارونه دي.

ملاكاتب چلپي په كشف الظنون ۵/۳۷۹ كې دهدايه دشروحوپه نوم لړكې دامام نسفي دشرح هدايه يادونه هم كړې ده مگردتقي الدين په طبقاتوكې دابن شحنه په خط ليكل شوي دي چې دده دهدايه كومه شرحه معروفه نه ده علامه اتقاني په غاية البيان كې ويلي دي چې امام نسفي غوښتل چې دهدايه شرح وليكي ليكن كله چې دده هممعصرعالم تاج الشريعة داواوريدل اوويې فرمايل چې دده لپاره داكاربنه نه ده نوامام نسفي خپله داارادوه ختمه كړه اودهدايه په مثل يې يوكتاب دوافي په نوم تصنيف كړاوبيايې دكافي په نوم دهغه شرح وكړه فكانه شرح هدايه.

دكنزالدقائق جامعيت:په ظاهره كې كنزاوغيره دمتونوكتابونه چې نن صباپه لويولويوحروفواوله اوږدلمنوحاشيوسره چاپ شوي دي ليدونكوته دابنكاريږي چې شايددابه ډيرلوی كتاب وي مگرپه كوموحروفوچې نن صبااخبارونو اوورځپاڼي خپريږي كه په هغوحرفوكنزوليكل شي نوبلامبالغه په يوه معمولي كتابچه كې ټول كتاب ځايدلی شي ددې متونونوعيت زماپه خيال دهغو يادداشتونوپه شان دی چې ديوتقريردكولوياغيره لپاره نوټ شوي وي اسلافوددې عجيبه مشق ترمووړارسولی دی دكومو شيانوتفصيل چې په لسولسومخونوكې راتلوهغه ټول مضمون به دوئ په يوه يادوكرشوكې په داسې ډول بندكړچې په هغه ټول مفصل مضمون به هغه عبارت حاوي وودايوكمال ووكوم چې اوس نقص اوبې كمالي گڼل كيږي دقضاوافتاء كاركونكوبه دغه يادداشتونه په يادوزده كړي وو نتيجه داوه چې ټول بابونه اودمضمون عنوانوبه دهغوئ سره محفوظ وو.

كنزاودهغه شروحات:هسې خومتن مذكوردخپل جامعيت اوترتيب وتهذيب سره سره دحسن اختصارله امله دتصنيف له ورځې بياتراوسه پورې دقلم دخښتانومنظورنظرپاته شوی دی او مختلفو اهل علم حضراتو زيلعي،عيني،حلبي، مقدسي،كرماني وغيره پرده قلم رااخيستی اوپه زيات شميركې شرحې يې دنياته وړاندې شوي دي دكوموچې فهرست په اخير كې درج دی ليكن دعلامه ابن نجيم مصری شرح البحرالرائق په كشف مغلقات توضيح معضلات تشريحات اوتفريعاتو كې مثل نه لري ولنعم ماقال المنصورالابلسي على الكنزفي الفقه الشروح كثيرة:بحارتفيدلطالبين لآليا:ولكن هذاالبحرصارت سوائيا:ومن وردالبحراستقل السواقيا.(معدن بتغير)

خطبه كتاب

بسم الله الرحمٰن الرحيم

ترجمه:.شروع كوم دالله په نامه چې زيات ښنونكی اوډيرمهربان دی.

الحمدلله أعز العلم في الاعصار وأعلى حزبه الانصار

ترجمه: ټول صفتونه هغه الله تعالی لره دي چاچې په هره زمانه کې علم دين ته عزت ورکړی دی او لوړکړي يې دي څښتنان دعلم او دهغوئ مرسته کونکي.

تشريح: مصنف صاحب دقرآن کريم په اقتداء کولو سره دخپل تصنيف شروع په الحمدلله اوبسم الله سره وکړه ځکه چې دقرآن کريم په ابتداء کې هم بسم الله او الحمدلله ده او همدا شان په حديث شريف ﴿ کل امر ذی بال لم يبدأ فيه بسم الله فهو اقطع او کل امر ذی بال لم يبدأ فيه بحمدالله فهو اقطع ﴾ په عمل کولو سره يې دخپل تصنيف پيل په بسم الله او الحمدلله سره وکړاو همدارنګه مصنف صاحب داسلافو داتباع له امله داکاروکړ ځکه چې داسلافو داعادت وو چې هغوئ به دخپلو کتابونو پيل په بسم الله او الحمدلله سره کاوو.

ف: په بسم الله کې باء جاره ده او اسم يې مجرور دی او دجار او مجرور لپاره متعلق ضروري دی دکوفيينو او بصرينو په دي کې اختلاف دی چې ايا دبسم الله متعلق فعل دی او که اسم. اهل بصره وايي فعل مقدر دی ځکه چې دامقدر عامل دی او فعل په عمل کې اصل دی ځکه چې فعل دعمل لپاره وضع شوی دی په خلاف داسم ځکه چې هغه دفعل دمشابهت له کبله عمل کوي او اهل کوفه وايي چې اسم مقدر دی ځکه چې په تقدير کې اصل افراد دی او اسم مفرد دی نه فعل، بيا دبصرينو په رأيه فعل عام مقدر دی البته که په کوم ځای کې دخاص فعل په تقدير قرينه وه نو په هغه ځای کې به فعل خاص مقدر وي په بسم الله کې څرنګه چې شروع في الکتاب دفعل خاص په تقدير قرينه ده نو لهذا دلته به فعل خاص مقدر وي چې اشرع دی.

او داشرع مخته دمقدر کېدلو په نسبت وروسته مقدر کېدل افضل دی ځکه چې دمصنف رحمه الله مقصود دادی چې د الله په نامه شروع وشي او داشرع مخته دمقدر کېدلو په صورت کې شروع دالله جل جلاله په نامه نه بلکه په اشرع وشوه.

سوال: داشرع وروسته مقدر کېدلو په صورت کې هم شروع د الله جل جلاله په نامه ونه شوه ځکه چې اوس هم په پيل کې داسم لفظ دی او اسم دالله جل جلاله نوم نه دی؟

ځواب: داسم په لفظ سره پيل کول دمجبوري له کبله دي ځکه چې که دبسم الله پر ځای بالله وويل شي نو دقسم سره به التباس راشي ځکه بسم الله وويل شوه.

ف: دالله لفظ د ذات واجب الوجود المستجمع لجميع صفات الکماله نوم دی او دالرحمن او الرحيم لغوي معنی دزړه نرم والی دی دلته ورڅخه مراد احسان او انعام دی ځکه چې دالله جل جلاله لپاره زړه (کوم چې له جسميت سره لازم دی) نشته لهذا دزړه دنرم والی غايه به مراد وي چې احسان دی په همدي شان هرصفت چې الله جل جلاله ته ثابت وي له هغه څخه به دصفت غايه مراد وي.

ف: دحمد لغوي معنی صفت کول دي او په اصطلاح کې هو الثناء علی الجميل الاختياری نعمة کانت او غيرها باللسان وحده ته ويل کيږي او شکر الثناء علی النعمة وحدها باللسان وغيره من الجوارح ته ويل کيږي او مدح الثناء علی الجميل اختياريا او لا باللسان وحده ته ويل کيږي نو دحمد مورد صرف ژبه ده متعلق که يې نعمت وي او که غير نعمة او دشکر متعلق نعمة دی او موردي يې ژبه هم کيدای شي او غيرله ژبي هم، نو لهذا احمد دمتعلق په اعتبار سره له شکر څخه عام دی

اودموردپه اعتبارسره خاص دی اوشكردموردپه اعتبارسره عام دی اودمتعلق په اعتبارخاص دی دحمدنقيض ذم دی اودشكرنقيض كفران دی.

په حمداومدح كې فرق:مدح دروح لرونكې اوروح نه لرونكي دواړه كيدای شي اوحمدصرف دروح لرونكي كيدای شي لهذا مدحت اللؤلؤ ويل صحيح دي مگر حمدت اللؤلؤويل صحيح نه دي.

په لله كې لام يااختصاص لپاره دی يادملک لپاره په اول تقديردحمدمعنى داده جنس الحمد مختص بالله المستجمع لجميع الصفات المستحق لجميع المحامداوپه دوهم تقديريې معنى داده جنس الحمدملک لله تعالى،ځكه چې حمددبندگانوله افعالو څخه دی اوخپله بندگان دمكاتبينوپه مثل دي چې په ظاهره خوددوی كتې ددوی مملوكې دي مگرپه حقيقت كې دالله تعالى لپاره دي .له العلم څخه علم فقه مراده ځكه چې په دې ځای كې دغه علم مرادول مناسب دي اودفقه عزت دادی چې دهرعامل په نفس كې ددي تعظيم دی دفقه په شرافت باندې په هره زمانه كې دټولواتفاق راغلی دی.

اعصاردعصرجمع ده مگرپه دي داسوال شوی دی چې دفَعْل (بفتح الفاء وسكون العين)جمع دافعال په وزن راتلل شاذدي بايددافعل په وزن راشي؟ **جواب** :دراتلونكي لفظ يعنى الانصاردمناسبت په وجه سره مصنف ﷫ دفعل جمع دافعال په وزن ذكركړي ده همداشان عصردعصر،عصوراوعصرپه وزن هم جمع كيدای شي.اعلى دافعال له باب څخه دماضي صيغه ده دلوړيې كړوپه معنى ،له اعلى حزبه څخه مراد ددرجاتولوړوالی دی لماقال الله تعالى ﴿ يرفع الله الذين امنومنكم والذين اوتوالعلم درجات ﴾ وقال الله تعالى ﴿هل يستوى الذين يعلمون والذين لايعلمون﴾ ،حزب په معنى دټولی،دخلكو جماعت، الانصار دناصرجمع ده لكه څرنگه چې اصحاب دصاحب جمع ده په معنى دمرسته كونكي انصارپه خلاف القياس دناصرجمع ده دقياس تقاضاداده چې دناصرجمع بايدنواصر راشي لكه دباطن جمع چې بواطن ده له انصاروڅخه مرادتقوی لرونكې اميران اوبادشاهان دي الف لام عهدی دی ای انصار العلم.

والصلوٰة والسلام على رسوله المختص بهذا الفضل العظيم وعلى آله الذين فازوا منه بحظ جسيم

ترجمه :اونزول درحمت دي وي دالله تعالى پررسول ﷺ باندي كوم چې مختص دی په دي عظيم فضل سره اودهغه ﷺ پر ال باندي كوم چې كاميابه شوي دي ددي علم په لويه حصه سره.

تشريح:دالله تعالى له لوري دي په حضرت محمد ﷺ باندې صلوة وسلام وي صلوة من الله په معنى درحمت دی اوصلوة من الملائكه په معنى داستغفاردی اوصلوة من المؤمنين په معنى ددعاء دی صلوة دمشترک فيه معنى لپاره وضع شوی دی نه داچې خپله دصلوة لفظ مشترک دی يعنى صلوة په معنى دتعظيم دی يارحمت، استغفاراودعاء دده افراددي داسې چې دصلوة لفظ دعين دلفظ په شان دمتعددومعنى گانولپاره وضع ده خلاصه داچې دصلوة لفظ دحيوان دلفظ په څيرمشترک معنوی دی دعين دلفظ په څيرمشترک لفظی نه دی اوس داسوال پاتې نه شوچې دالله تعالى په ارشاد ﴿ اِنَّ اللهَ وَمَلٰئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِىِّ (الآية) ﴾ كې مشترک لفظ په يووخت كې په دومعنى گانوكې استعمال شوی دی دالصلوة الف لام عهدی دی ای الصلوة التى امرناالله بها بقوله ياايهاالذين آمنوصلواعليه(الآية).

د رسول لغوي او اصطلاحي معنى: رسول د فعول پر وزن دى لكه څرنګه چې فعيل د فاعل په معنى هم راځي او د مفعول په معنى هم راځي فعول هم همداسې دى لكه غفور په معنى د غافر او حلوبة په معنى د محلوبة چې د حلوب مؤنث دى دلته رسول د مرسل په معنى سره دى يعنى پرستاده شده (لېږل شوى) او د رسول اصطلاحي معنى انسان بعثه الله الى الخلق لتبليغ الاحكام (هغه انسان چې الله تعالى مخلوق ته د احكامو د تبليغ لپاره لېږلى وي) ده.

د رسول او نبي ترمنځ فرق: د رسول او نبي ترمنځ كوم نسبت دى په دې كې درې قوله دي **نمبر ۱**- د تساوي نسبت دى يعنى څوك چې رسول دى هغه نبي هم دى او څوك چې نبي دى هغه رسول هم دى مګر دا صحيح نه دى ځكه چې الله تعالى فرمايي ﴿ما ارسلنا من قبلك من رسول ولا نبي﴾ دلته نبي پر رسول عطف شوى دى او عطف د مغائرت تقاضا كوي يعنى معطوف به له معطوف عليه څخه مغائر وي نو بيا به د رسول او نبي په منځ كې د تساوي نسبت څنګه وي؟

نمبر ۲- د تباين نسبت دى مګر دا قول هم صحيح نه دى ځكه چې الله تعالى د حضرت اسماعيل عليه السلام په باره كې فرمايي ﴿وكان رسولا نبيا﴾ دلته د رسول او نبي دواړو اطلاق په يوه ذات شوى دى نو د دوئ په منځ كې به نسبت تباين څنګه صحيح شي.

نمبر ۳- د عموم خصوص مطلق نسبت دى داسې چې نبي اعم مطلق دى او رسول اخص مطلق دى په دې دول چې رسول هغه دى چې هغه ته فرښتې وحى راوړي وي او نبي عام ده خواكه ده ته فرښتې وحى راوړې وي او كه د الهام يا خوب په طريقه احكام وركړل شوي وو.

د لفظ آل اصل: د آل د لفظ په اصل كې اختلاف دى يو قول دا دى چې د آل اصل اهل دى هاء په همزه بدله شوه او بيا د آمن د قانون په اساس همزه په الف بدله شوه نو آل جوړ شو د دې قول دليل دا دى چې د آل تصغير اهيل راځي او تصغير شى خپل اصل ته ګرځوي نو چې په تصغير كې هاء ده نو د آل په اصل كې به هم وي.

دوهم قول دا دى چې د آل اصل اول دى واؤ په الف بدل شو آل جوړ شو د دې دليل دا دى چې د آل تصغير اويل دى نو چې په تصغير كې واؤ شته په اصل كې به هم وي د دوهم قول والا وايي چې آل جلالفظ دى چې تصغيرې اويل دى او اهل جلالفظ دى چې تصغيرې اهيل دى.

ف: له آل محمد ﷺ څخه څوک مراد دي په دې باره كې د علماء مختلف اقوال دي (۱) له آل محمد ﷺ څخه امهات المؤمنين مراد دي لقوله تعالى ﴿انما يريد الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت ويطهركم تطهيرا﴾ د دې آيت له سياق او سباق څخه همدا معلوميږي چې له اهل بيت څخه امهات المؤمنين مراد دي. (۲) له آل محمد ﷺ څخه حضرت علي ﷺ، حضرت فاطمه ﷺ او حضرات حسنين ﷺ مراد دي ځكه چې منقول دي چې كله د پورتنى آيت نازل شونو نبي كريم ﷺ يو څادر راپورته كړاو د دې څلور حضراتو پر سرېې واچاوه او ويې فرمايل اى الله ﷻ دا زما اهل بيت دي ته له دوئ څخه ګناهونه لرې كړې او دوې پاک كړې. (۳) بنو هاشم او بنو عبد المطلب مراد دي يعنى هغه كسان كوموته چې زكوة اخيستل حرام دي دا د امام شافعي رحمه الله رأيه ده. (۴) د ځينو محقيقنو رأيه داده چې دا لفظ په مختلفو ځايونو كې د پورته ذكرشويو د ريو سرو معنى

گانو لپاره استعمال شوی دی او مجازاً د نورو صالحينو او اهل تقوی لپاره هم استعماليږي لما قال ﷺ سلمان منا من اهل البيت ولي حديث ضعيف كل تقي آلي دلته داخرني معنی مناسبه ده ځکه چې دا د نبی کريم ﷺ اولاد، فقهاء او صحابه کرام ﷺ ټولو ته شامله ده لهذا تعميم مناسب دی.

فازبطوز فوز اد نجاة او ظفر بالخير په معنی دی او منه جار سره له مجرور ه ترکائنا متعلق له بحظ څخه حال دی او حظ د نصيب او حصي په معنی دی جسيم په معنی د عظيم د منه ضمير علم ته راجع دی ای فازوا من العلم بحظ جسيم او د احتمال هم شته چې نبی کريم ﷺ ته راجع شي ای فازوا من النبی ﷺ بحظ جسيم.

قال مولنا الحبر النحرير محرز قصبات السبق في التقرير و التحرير علم الهدى علامة الورى مالك ازمة الفتيا مظهر كلمات الله العليا كشاف حقائق مبين الدقائق

ترجمه: ويلي دي مولانا چې نيک عالم ماهر او جمع کونکې ديې دوړاندي والی د بانسو په تقرير او تحرير کې دهدايت علم بردار، په مخلوق کې لوی عالم، دفتوا دملونو مالک، د الله تعالی د عالی کلماتو ظاهره کونکې، دحقائقو ښه لوڅونکې او دباريکيو ښه ظاهره کونکې.

تشريح: داعبارت دمصنف رحمه الله شاګردانو زيات کړی دی په اصل مسوده کې داعبارت نشته شاګردانو خپل استاد په ځينو مادحه صفاتو متصف کړی دی، الحبر نيک عالم او د، العالم اللذی يزين الكلام بتقريره وتحريره، په معنی دی او جمع يې احبار او حبور ده ، النحرير (بكسر النون) په معنی د حاذق، ماهر، عاقل، مجرب او فطن دی د نحرير جمع نحارير ده محرز د احرز يحرز احراز څخه اسم فاعل دی د جمع کولو، ساتلو، او ذخيره کولو په معنی دی، قصبات د قصبة جمع ده قصب هر هغه شی ته ويل کيږي چې په هغه کې بندونه او غوټې وي لکه بانس، نرکل وغيره، احرز قصب السبق په معنی د غالب شو دی او ددي اصل دا دی چې په منډو کې دمقابلي په وخت به د منډو په ميدان يو بانس ودراوه نو کوم کس چې ترټولو وړاندي هغه ته وررسيد و هغه به يې راکښی او پورته کاوه به يې تر څو دده په ګټولو او غلبي باندي نښانه وي.

علم، دجامې دنقش، بيرغ، او دقوم دمشر په معنی دی جمع يې اعلام ده الهدى درهنمائي، بيان، او دلالت په معنی ده ويل کيږي هو على الهدى هغه پرهدايت دی العلامة دمبالغې صيغه ده په معنی دډيرپوه، الورى دوري اسم ده دمخلوق په معنی، ازمة دزمام جمع ده په معنی دمهار، باګ، لګام چې په هغه يو شی وتړل شي، الفتيا (بضم الفاء) په شرعی مسائلو کې په شريعت دپوه کس فيصله، جمع يې فتاوى ده المظهر له اظهر يظهر اظهارا څخه په معنی دښکاره کونکې، کلمات دکلمة جمع ده په معنی دلفظ که مفرد وي که مرکب چې انسان يې وايي، العليا دلوړ ځای په معنی ده ، كشاف صيغه دمبالغي ده ويل کيږي هو كشاف الغمم هغه دغمونو لري کونکي دی، الحقائق دحقيقة جمع ده په معنی داصل او ماهيت شی، مبين بتبيين تبيانا څخه مشتق ده په معنی دواضح کولو سره، الدقائق په معنی دباريکي او مشکلي معاملي.

سلطان علماء الشرق والصين حافظ الحق والملة والدين وارث الانبياء والمرسلين ابو البركات عبدالله ابن احمد بن محمود النسفي متع الله المسلمين بدوام بقاله

ترجمه :دشرق اودغرب دعلماو بادشاه دی ساتونکي دی دحق ،ملت اودين ،وارث دی دانبياو اورسولانو دچاچي کنيت ابو البركات اونوم عبدالله اوداحمدزوی هغه د محمودزوی اودنسف اوسيدونکی دی ګټه دي ورسوي الله تعالی استفاده کونکوته دده دعمرپه درازوالي سره .

تشريح :له علماء شرق څخه عجم مراددی اوصين معرب دی دچين مرادمغرب دی په حافظ الحق الخ سره يې دمصنف صاحب لقب ته اشاره وکړه ځکه چې دمصنف صاحب لقب حافظ الدين دی حافظ دمحدثينو په اصطلاح کې هغه شخص ته ويل کيږي دچاچي يولک حديثونه په يادوي ،ملت اودين ذاتامتحددي او اعتبارامختلف دي شريعت په دي حيثيت چې اطاعت يې کيږي دين دی اوپه دي حيثيت چې ليکل کيږي ملت دی ،وارث الانبياء دنبی کريم ﷺ له دي قول څخه اخيستل شوی دی العلماء ورثة الانبياء والمرسلين فان الانبياء لم يورثوا درهما ولا دينارا وانما ورثوا العلم فمن اخذها اخذ بحظ وافر ، دمصنف کنيت ابو البركات او نوم يې عبد الله دی دپلارنوم يې محمداودنيکه نوم يې محمود دی النسفي دنسف ښارته منسوب دی نسف دجيحون اوسمرقند په منځ کې ديوښارنوم دی ،متع الله المقتبسين بدوام بقائه ،داشاګرددخپل عبارت په پای کې خپل استادته دعاء کړي ده مقتبسين داقتباس اسم فاعل دی لغوی معنی يې له اورڅخه سپرغی اخيستل اوس استعارة په طلب علم او هدايت کې استعماليږي دلته يې دغه معنی مراد ده .

لمارأيت الهمم مائلة الى المختصرات والطباع راغبة عن المطولات اردت ان الخص الوافی بذكر ماعم وقوعه وكثر وجوده لتكثر فائدته وتتوفر عائدته فشرعت فيه بعد التماس طائفة من اعيان الافاضل والافاضل الاعيان الذين هم بمنزلة الانسان للعين والعين للانسان مع مابی من العوائق

ترجمه :کله چې ماوليدل چې همتونه مائل وو دمختصرو کتابونو لورته او طبيعتونو سرغړاوه له اوږدو کتابونو څخه نوماراده وکړه چې مختصرکړم وافی دهغومسائلوپه ذکرکولو سره چې عامې دي اوديرې پيښيږي ترڅوديروي ددي فائده بزيات وي ښه والی او منفعت نوماشرع وکړه په دي کارکې وروسته له غوښتنو دلوړو درجو خاوندانو اصحاب فضل وکمال علماو ،هغه علماء کرام چې هغوئ په منزله دکسې دي سترګو لره اوپه منزله دسترګو دي انسان لره سره له دي چې ماته موانع هم موجود وو .

تشريح :قوله لمارأيت دادقال مولناپاره مقوله ده ،الهمم دهمت جمع ده دقوي عزم اوقصدپه معنی سره ويل کيږي له همة عالية، مائلة له مال مال يميل څخه ده دمائل کيدلوپه معنی ،الطباع دطبع جمع ده پيدائشي عادت ته ويل کيږي ،راغبة له رغب يرغب څخه په معنی دخوښولو اوخواهش کولو ده اوکه يې صله عن راغلی وونوبيايې معنی داعراض کولو ،مخ ګرځولو اوبي التفاتي سره ده ،الخص له لخص يلخص تلخيص څخه دی دمختصرکولو ،خلاصه رايستلو اوله لږو الفاظو څخه دديري معنی اداءکولوپه معنی ده ،الوافی دمصنف صاحب يو مبسوط کتاب دی په کوم کې چې دهدايه ،قدوری اوغيره مسائلي ذکرکړي دي ،تتوفر دزياتيدلوپه معنی، عائدة دعائدمؤنث دی په معنی دنيکي صله اومنفعت جمع يې عواداوعوائد راځي ،فشرعت دادشرط محذوف لپاره جزاده ای اذاکان الامر کذلک فشرعت،التماس په معنی دطلب کولو دی ويل کيږي التمس الشئ من فلان ،اعيان دعين جمع ده په معنی دعين الشئ اوپه معنی دخيارالشئ دلته په معنی داشرافو اواکابرو ده ،الافاضل دافضل جمع ده په فضل کې دلورشوی په معنی اعيان الافاضل په معنی دپه فضل کې لورشوي،الافاضل الاعيان،له اعيان څخه مرادعلماء دي ځکه چې علماء خيارالناس

دي نو اعيان الافاضل هغه علماء دي کوم چې په علوموکې انتهاته رسيدلي وي چې له هغوئ څخه د هيڅ مرتبه لوړه نه وي ماسوا له انبيا وعليهم السلام څخه ،اوله افاضل الاعيان څخه هغه علماء مراد دي کوم چې منتهي نه وي او س دانتهائي فضيلت په تلاش کې وي اللهم هم بمنزلة العين دايې دافاضل الاعيان صفت بيان کړی دی چې دا په منزله دکسی دی سترګې لره او په منزله دسترګې دی انسان لره الانسان بفتح الهمزه دسترګې دکسی په معنی دی په کوم چې الله تعالی نور پيدا کړی دی چې په هغه انسان ليدنه کوي جمع يې اناسی اناسيه اواناس راځي الانسان بکسرالهمزه په معنی دادمی سره دبشر دجنس په افرادويې اطلاق کيږي العين دسترګې، دسترګې دکسي په معنی او په بانه وغيره پر تولويې اطلاق کيږي العوائق دعائق جمع ده دموانع اوهرمنع کونکی شي په معنی ده.

وَسَمَّيْتُهُ بِكَنْزِ الدَّقَائِقِ وَهُوَ وَإِنْ خَلَا عَنِ الْعَوِيصَاتِ وَالْمُعْضِلَاتِ فَقَدْ تَحَلَّى بِمَسَائِلِ الْفَتَاوَى وَالْوَاقِعَاتِ مُعَلَّمًا بِتِلْكَ الْعَلَامَاتِ وَزِدْتُ الطَّاءَ لِلْإِطْلَاقَاتِ وَاللهُ الْمُوَفِّقُ لِلْإِتْمَامِ وَالْمُيَسِّرُ لِلْاِخْتِتَامِ

ترجمه: او ما نوم کښېښود دده کنزالدقائق، او دا که څه هم خالي دی له سختو او پيچلو مسئلو څخه مګر ښائسته دی په فتاواوو، او نويو پيښيدونکو مسئلو باندې حال دا چې هغه دوافی علامې دلته هم ماورکړي دي او د طاء په زياتونې سره د اطلاقاتو طرف ته اشاره کونکې يم او خاص الله ﷻ توفيق ورکونکې دی دپوره کولو او هغه اسانه کونکې دي د دې دختمولو.

تشريح: دکنز نوم ايښودل دهغه ډيرو مسائلو له کبله دی چې په دې کتاب کې جمع شوي دي او دقائق ته يې داضافت وجه داده چې دده مسائل دقيق دي کوم چې دقيق فکرته احتياج لري خلی يخلو خلوا خالی کيدل ،العويصات ،دعويصة جمع ده په معنی دسخت،العويص من الكلام چې په هغه پوهيدل ګران وي ،المعضلات ،دمعضلة جمع ده پيچلي اومشکلي مسئلي ته ويل کيږي ،تحلی په معنی دښائسته کولو، ګېڼه اغوستلو ،مسائل الفتاوی والواقعات دمفتی به مسائلو او نويو پيښيدونکو واقعاتو او حوادثو په معنی، او دايې هم مطلب کيدای شي چې فتاوی او واقعات دي دوو کتابونو مان وي مصنف صاحب فرمايې چې زما کتاب ددي دواړو کتابونو په مسئلومزين دی ،معلماله اعلم څخه دی په معنی دنښې او علامې لګولو سره، ويل کيږي خفيت معالم الطريق دلارې نښې پټې شوي ،معلما دتحلی له ضمير څخه حال دی يعنی په دې حال کې چې هغه علامې دلته هم ما لګولي دي کومې چې په وافی کې شته هغه حروف يې مراد دي له کومو څخه چې يې دائمه ولورته اشاره کړې ده مثلاً له ح.څخه دامام ابوحنيفه رحمه الله طرف ته اشاره ده له س څخه امام ابويوسف رحمه الله ته اوله م څخه امام محمد رحمه الله ته اوله ز څخه امام زفر اوله ک څخه امام مالک رحمه الله ته اوله ف څخه امام شافعی رحمه الله ته اشاره ده البته يوه علامه دلته زياته ده يعنی ط چې په هغې سره مسائلو مطلقه و ته اشاره ده کومه چې په وافی کې نشته ،الموفق دتوفيق اسم فاعل دی په معنی د جعل اسباب العبد موافقة لمطلوبه خيرا کان او شرا يعنی د مطلوب موافق اسباب پيدا کول خواه که مطلوب خيروي او که شر ،الميسر له تيسير څخه په معنی دِاسانه کولو سره .

كتاب الطهارة

دا كتاب د طهارت په بيان كي دى.

په كتاب الطهارة كي اضافت لاميه دى مضاف سره له مضاف اليه دمبتدا، محذوف لپاره خبردى تقديردعبارت دادى هذاكتاب الطهارة ،يادفعل محذوف لپاره دمفعول كيدلوله امله منصوب دى تقديردعبارت دادى هاک كتاب الطهارة يا خذ كتاب الطهارة.

كتاب :دالفظ په اصل كي له كتب څخه مأخوذدى چي دهغه معنى جمع كول دي ويل كيږي. كتب الشئ اى جمعه.دعربى دقواعدوله نظره كتاب مصدردى ليكن دمكتوب په معنى كي استعماليږي يعنى جمع كړل شوى شي ،دتحريرپه ذريعه حروف اومعاني جمع كيږي ځكه نوليكلوته هم كتابت ويل كيږي اوله همده څخه دكتيبه (په معنى دلښكر)لفظ هم مأخوذ دى ځكه چي هغه دپوځيانويولوى تعداد جمع كوي ،په اصطلاح كي كتاب دمسائلوهغه مجموعي ته ويل كيږي كومې چي مستقلا معتبري وي خواه كه په مختلفوانواعومشتملي وي اوكه نه وي ،دځينوعلماورأيه داده چي كه دجنس مسائلوبيان په نظركي وي نودكتاب عنوان وركول كيږي ځكه چي جنس متعددوانواعوته جامع وي اودكتاب لغوي معنى هم جمع ده اوكه صرف ديوي نوعي مسائلوبيانول په نظركي وي نوهغه ته دباب عنوان وركول كيږي ځكه چي ديوه لغت مطابق دباب معنى نوع ده اوكه دځينوجزئياتوله ماقبل څخه جلابيانول مقصودوو نوهغه ته دفصل عنوان وركول كيږي ځكه چي هغه له ماقبل څخه ممتازاو جلا دي.

طهارت (بفتح الطاء) په معنى دنظافت اوپاكوالى ،او(بكسر الطاء) په معنى دآله طهارت او(بضم الطاء)له پاكي حاصلولو څخه وروسته چي له آله طهارت څخه څه پاته شي،په معنى دى ،اوشرعًاله محل څخه دنجاست حقيقيه اوحكميه لري كولوته طهارت ويل كيږي (نجاست حقيقيه لكه بولي ،ګندګي وغيره اوحكميه لكه حدث اصغراواكبر).

دطهارت ډيري انواعې اوډيراقسام دي مثلاً دجاموپاكوالى،دبدن پاكوالى اودځاى پاكوالى. په اوبوپاكوالى .په خاوري سره پاكوالى ددي اقساموپه اعتبارسره بايد دطهارت لفظ جمع راوړل شوى واى مګرځرنګه چي طهارة مصدردى اودمصدرتثنيه اوجمع نه وي ځكه مفردذكرشو.

مصنف صاحب رحمه الله ترټولووړاندي كتاب الطهارة په دي وجه ذكركړچي ددين داموړومدار په پنځوشيانودى اعتقادات، آداب، عبادات،معاملات،اوعقوبات،اولني دوه قسمه خوپه فقه كي داخل نه دي ځكه مصنف صاحب رحمه الله هغه دواړه پريښي دي دپاتي دريوهر يوه پنځه پنځه قسمه دي، دعباداتوپنځه قسمه صلوة،زكوة،صوم،حج اوجهاددي .دمعاملاتوپنځه قسمونه معاوضات ماليه، مناكحات، مخاصمات، امانات،اوتركات دي ،دعقوباتوپنځه قسمونه قصاص حدسرقه، حدزنا،حد قذف،اوحد ردت دي .په دوئ كي بيا عبادات دااهتمام شان په وجه مخته كړي دي ځكه چي بندګان دهمدي عبادت لپاره پيداكړل شوي دي لقوله تعالى ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ اوپه عباداتوكي صلوة مهتم بالشان دى ځكه چي په كلام پاک كي په كثرت سره له ايمان څخه وروسته دصلوة ذكراغلى دى كقوله تعالى ﴿ اَلَّذِين

يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلوةَ﴾ بيايې پرصلوة باندې طهارة ځکه مخته کړچې دنبی کريم ﷺ په ارشاد ﴿مِفْتَاحُ الصَّلوةِ الطُّهُورُ﴾کې طهارة ته دلمانځه کيلي (چابي) ويل شوي ده.

(۱)فَرْضُ الْوُضُوءِ غَسْلُ وَجْهِهِ (۲)وَهُوَ مِنْ قِصَاصِ الشَّعْرِ إِلَى أَسْفَلِ الذَّقَنِ وَإِلَى شَحْمَتَيِ الْأُذُنِ (۳)وَيَدَيْهِ بِمِرْفَقَيْهِ وَرِجْلَيْهِ بِكَعْبَيْهِ (۴)وَمَسْحُ رُبْعِ رَأْسِهِ (۵)وَلِحْيَتِهِ

ترجمه:داوداسه فرضونه دلمونځ کونکې خپل مخ پريمنځل،او هغه (په اوږدوالی کې)دتندی له ويښتانو څخه بيادزني ترلاندې پورې او(په ساره کې)دغوږونوترنرميوپورې ده ،اودواړه لاسونه سره له څنګلوپريمنځل دي اودواړه پښې سره له بجلکوپريمنځل دي،اومسح کول دي دځلورمې دسراودږيرې.

تشريح:مصنف صاحب رحمه الله داوداسه احکام دغسل تراحکامومخکې ذکرکړي دي ځکه چې داوداسه ضرورت دغسل په نسبت ډيردی ،اوهمداشان داوداسه محل دبدن جزء دی اودغسل محل کل (ټول) بدن دی اوجزءپرکل مخته وي ځکه يې داوداسه احکام اول اودغسل احکام وروسته ذکرکړل اوهمداسې دکتاب الله داقتداء له امله يې داترتيب ابنې دی ځکه چې په کتاب الله کې داودس اوغسل احکام په دغه ترتيب سره بيان شوي دي .

ف:.فرض لغةً دتقديرپه معنی دی اوشرعاًهغه حکم ته ويل کيږي چې دهغه کول ضروري وي اودهغه لزوم له داسې دليل قطعي څخه ثابت وي چې په هغه څه شک اوشبه نه وي،په فرض اوواجبوکې فرق دادی چې فرض له دليل قطعي څخه په صراحت اووضاحت سره ثابت وي اوواجب يا په داسې دليل ثابت وي چې هغه يقيني نه وي لکه خبرواحد،ياخودليل يقيني وي ليکن معنی يې له ابهام څخه خالي نه وي دفرضوپرېښودنکی بې له عذره دعقاب مستحق دی اودبغيرله تاويله دفرضومنکرکافردی .

ف:غسل په معنی دپريمنځلو،اودپريمنځلواندازه داده چې داوبوڅاڅکې توی شي لږترلږه ددوو څاڅکوتويدل ضروري دي کنه له دوڅاڅکوڅخه دلږود څڅيدوپه صورت کې اودس نه صحيح کيږي ځکه چې ددوڅاڅکوپه تويدلوسره صرف فرضيت اداء کيږي سره له کراهته،نولهذابغيرله کراهته داوداسه اندازه داده چې له دوڅاڅکوڅخه زيات توی شي ، وفي الفيض :القطرتان في الاصح،قال ابن عابدين شامي رحمه الله :ثم لايخفى ان هذابيان للفرض الذي لايجزئ اقل منه ......وسيأتي ان التقتير مكروه ,ولايمكن حمل التقتير على مادون القطرتين لان الوضوء لايصح حينئذ لماعلمت ,فتعين انه لاينتفي التقتير الا بالزيادة على ذالك بأن يكون التقاطر ظاهراً ليكون غسلاً بيقين.(الدر المختار مع الشاميه ۱/۷۱)

ف:فقهاو دغَسل (بفتح الغين)او غُسل(بضم الغين)په منځ دافرق کړی دی چې غَسل (بالفتح)له يوشی څخه خيري داوبوپه ذريعه لرې کولوته ويل کيږي اوغُسل (بالضم)دټول بدن دپريمنځلونوم دی اوهغه اوبوته هم ويل کيږي په کوموچې بدن پريمنځل کيږي ، اوغِسل(بالكسر)هغه شی ته ويل کيږي چې په هغه سرپريمنځل کيږي مثلاًګل خطمی وغيره .

ف : په غسل وجهه کې دغسل اضافت وجهه ته داضافة المصدرالی المفعول له قبيلې څخه دی اوفاعل محذوف دی تقديريې دادی غسل المتوضی وجهه اودوجهه ضميردغه فاعل يعنی متوضی ته راجع دی.

ف:لفظ وضوءکه دواوْپه پيش سره وونومعنی يې فعل وضوء ده يعنی داوداسه اندامونوپريمنځل، او که په واوْزور وو نو ددو معناګانولپاره راځي اودس کول ،اودوهمه معنی يې هغه اوبه په کوموچې اودس

وشي.په اصل کې دالفظ له وضاءت څخه مأخوذ دی چې دهغه معنی ښکلا،اوښائست اونظافت ده نو داوداسه فعل ته وضوء یاپه دې وجه ویل کیږي چې له ده څخه پاکي اوصفائي حاصلیږي اویاپه دې وجه چې داوداسه په برکت به په اخرت کې مؤمن داوداسه اندامونه روښانه وي لماورد فی الحـــدیث.

(۱)په اوداسه کې څلورشیان فرض دي نمبر۱:دمخ پریمنځل. نمبر۲:دلاسونوپریمنځل ترڅنګلوپورې. نمبر۳:دپښو پریمنځل تربجلکو(پیډیو)پورې. نمبر۴:دسرمسح کول ،دلیل یې دالله ﷻ داقول مبارک دی ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾(ای ایمان والاوو کله چې تاسي لمانځه ته دولاړیدواراده وکړی نوخپل مخونه اوخپل لاسونه سره له څنګلو ومینځئ اوپه خپلوسرونومسح وکړئ اوخپلي پښې دبجلکوسره ومینځئ).

(۲)العاص (بفتح القاف وضم القاف)دواړه مستعمل دی ،دمخ دپریمنځلو اندازه دسردویښتانو دشنه کیدوله اخرڅخه نیولي دزني ترلاندي پورې په اوږدوالی کې اودیوه غوږله نرمۍ څخه بیادبل غوږ ترنرمۍ پورې په ساره کې ده نبه داوه چې الی شحمتی الاذنین ویل شوي وای ځکه چې دیوه غوږدوه نرمی نه وي.

(۳)قوله ویدیه مع مرفقیه ای وغسل یدیه مع مرفقیه ،یعنی دواړه څنګلي په غسل یدین کې اودواړه بجلکي په غسل رجلین کې داخلي دي ،مرفقان دمرفق تثنیه ده مرفق دمیم په کسره اودفاء په فتحه سره ده اوددې عکس هم صحیح دی دبازواوکلائی بندته مرفق ویل کیږي ،کعبان دکعب تثنیه ده دلته مراددپنډۍ له هډوکي سره متصل راوتلی هډوکی دی فماروی هشام عن محمدانه علی ظهر القدم عندمعقد الشراک سهو منه.

دڅنګلوپه باره کې اختلاف ائمه

ف:دڅنګلواوبجلکوپه باره کې دائمه ثلاثه (امام ابوحنیفه ،امام ابویوسف اوامام محمد رحمهم الله)اوامام زفر رحمه الله اختلاف دی دائمه ثلاثه په نزدڅنګلي اوبجلي په پریمنځلوکې داخلي دي یعنی دهغو پریمنځل هم فرض دي دامام زفر رحمه الله په نزدفرض نه دي دامام زفر رحمه الله دلیل دادی چې په آیت مبارکه کې الی المرافق او الی الکعبین دانتهاء په طرز ذکرشوي دي اوداقاعده ده چې دکوم شی انتهاء بیان شي نوانتهاء په هغه شی کې داخله نه وي لکه څرنګه چې دروژې په باره کې الله ﷻ فرمایي ﴿واتموا الصيام الى الليل﴾په دې کې الی اللیل دانتهاء په طورذکرده اوبالاتفاق شپه په روژه کې داخله نه ده نوهمداشان څنګلي اوبیډي په غسل کې داخلي نه دي.

دائمه ثلاثه دلیل دادی چې انتهاء کله داسقاط ماوراء لپاره ذکرکیږي لکه په الی المرافق او الی الکعبین کې ځکه چې که دادانسقاط ماوراء لپاره نشي نوبیادلاس تراوږي پورې دپریمنځلوحکم وای اوس الی المرافق دابیان کړه چې له څنګلو څخه ماوراء له پریمنځلوڅخه ساقط دي اوکله انتهاء دامتدادحکم لپاره ذکرکیږي لکه په ﴿اتموا الصيام الى الليل﴾ کې ځکه چې دصوم اطلاق په یوګړی امساک باندي هم کیږي نوالی اللیل داحکم ترشپې پورې وغځواوه البته شپه په کې داخله نه ده.

ف: دائمه ثلاثه قول راجع دى لمافي شرح التنوير: والمرفقان والكعبان يدخلان في الغسل عندعلمائنا الثلاثة (الدر المختار على هامش ردالمحتار: ۱/۵۴)

ف: مسح په لغت كې په يوشى لاس تيرولوته ويل كيږي او اصطلاحي معنى يې داده چې لوند لاس په يوه اندام تيرول خو اكه لوندوالى داوبوله لوشي اخيستل شوي وي اوكه ديو مغسول اندام له پريمنځلو وروسته پاته وي په دې ډول چې په چپه لاس له اوبوتويولو وروسته په راسته لاس كې لوندوالى پاته شي اوپه كوم لاس كې چې لوندوالى پاته دى هغه په چپه لاس يا يوبل اندام باندنه وي تيرشوى لمافي الدر المختار: ولو باصابة مطر او بلل باقي بعد غسل على المشهور وفي الشامية (قوله على المشهور) مقابله قول الحاكم بالمنع وخطأه عامة المشائخ، وانتصر له المحقق ابن الكمال وقال: الصحيح ماقاله الحاكم، وفي تقريرات الرافعي: وفق الرحمتى بين روايتي الصحة وعدمها على مانقله السندى بحمل المشهور على مااذابقي بلل في كفه بعداسالة الماء على ذراعه اليسرى من غيران يدلكه وحمل مقابله على مااذادلك العضو المغسول بعداسالة الماء عليه (الدر المختار مع الشامية والتقريرات: ۱/۷۱)

(۴) قوله ومسح ربع رأسه اى فرض الوضو مسح ربع رأسه. يعنى داودا سه په فرائضو كې يو فرض د سر د څلورمې حصې مسح كول دي، د سر مسح بالاتفاق فرض ده البته په مقدار مفروض (چې څومره اندازه فرض ده) كې اختلاف دى داحنافو په نزد ربع رأس (د سر څلورمه حصه) مسح فرض ده خواه كه له هره طرفه وي. دامام شافعي رحمه الله په نزد د مطلق سر مسح فرض ده لهذا كه په دريوويښتانو مسح وشي نو فرض اداء كيږي. دامام مالك رحمه الله اوامام احمد رحمه الله په نزد د ټول سر مسح فرض ده ، داحنافو دليل دادى چې آيت مبارك ﴿وامسحوا برؤسكم﴾ د مقدار مسح په باره كې مجمل دى او مجمل بيان ته ضرورت لري دلته د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه حديث د مجمل بيان دى چې نبى كريم ﷺ ديو قوم ډيران ته تشريف راوړى اوله اودس مات وروسته يې اودس وكړاو مسح يې وكړه په خپلي ناصيه او دواړو موزوباندې .

ف: مقدار ناصيه او د سر څلورمه حصه سره يودي ځكه نو داحنافو په نزد د څلورمي حصي مسحه فرض ده په حديث شريف كې ناصيه ذكر شوي ده مګر د ناصيه څه خصوصيت نشته بلكه د ناصيه په اندازه چې له هرځايه مسح وشي كافى ده مقدار ناصيه ته مصنف صاحب رحمه الله د سر څلورمه ويلي ده او ځيني مشائخ د دريو ګوتو اندازه ورڅخه مراد وي .

ف: صرف د څلورمي حصي د مسح عادت جوړول ترک سنت دى لمانځه ته يې داثر رسيږي چې د لمانځه صحت اختلافى كيږي دوهم له ددي سنت په پريښودلو سره طهارت ته نقصان رسيږي له كوم څخه چې په ځينو جزئياتو كې په امامت د كراهت حكم شوى دى. (امداد الفتاوى ۱/۲۷، ملتان)

دلحيې د مسح حكم

(۵) قوله ولحيته داپر راسه باندې عطف دى يعنى د ږيرې د څلورمي حصي مسح هم فرض ده دا له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه د حسن بن زياد رحمه الله روايت دى ځكه چې د ماتحت اللحيه غسل څرنګه چې مشكل دى نو د جيرې په ډول يې مسح لحيه واجب وګرځوله او په ممسوح اعضاو كې قاعده داده چې د ټول عضو استيعاب واجب نه وي نو لهذا د ږيرې د څلورمي حصې مسح واجب شوه داهم جائزده چې په لفظ ربع

باندي معطوف شي په دي صورت کې معنی داده چې د سر د څلورمي مسح فرض ده او دټولي ږيري مسح هم فرض ده داله امام ابو يوسف رحمه الله څخه يو روايت دی.

ف: لحيه پر دو قسمه ده، خفيفه او كثه، خفيفه هغه ده له كومې څخه چې دمخ پوستكی ښكاريږي د دي حكم دادی چې دمخ پوستكی ته اوبه رسول ضروري دي صرف ږيره لندول يا مسح كول كفايت نه كوي، كثه (گڼه ږيره) هغه ده له كومې څخه چې دمخ پوستكی نه ښكاريږي په دي باره كې داحنافو اختلاف دی اصح قول دادی چې په دي صورت كې دمخ پر ځای دټولي ږيري پريمنځل فرض دي مګرله دي څخه هغه ږيره مراد ده چې دمخ په برابري كې وي لاندي ځوړنده حصه په دي كې داخله نه ده دهغي نه پريمنځل فرض دي اونه مسح كول، البته مسح كول يې سنت دي لمافي الدر المختار: ان المسترسل لايجب غسله ولامسحه بل يسن (الدر المختار على هامش ردالمحتار: 1/75) له دي قول څخه علاوه نور قولونه مرجوح دي هغه دادي مسح الكل، مسح الثلث، مسح الربع، مسح مايلاقي البشرة، غسل الثلث، غسل الربع، عدم الغسل والمسح.

ف: اودس كونكې كه له اوداسه وروسته نوكان پري كړل ياې بريتونه وغيره وخريل نو پرده داودس اعاده ضروري نه ده، لمافي التنوير: ولايعاد الوضوء..................بحلق شاربه وحاجبه وقلم ظفره (الدر المختار على هامش ردالمحتار: 1/75)

ف: بريتونه، وريځي اود شونډو اوږيري په منځ كې ويښتان كه دومره كم ووچې له هغو څخه پوستكی ښكاريدو نو دهغو حكم دلحيه خفيفه دی يعنی پوستكی ته اوبه رسول ضروري دي اوكه ډيرووله كومو څخه چې پوستكی نه ښكاريدو نو بيا پوستكی ته اوبه رسول ضروري نه دي اوكه بريتونه دومره اوږده وو چې دشونډو سرخي يې پټه كړي وه نو دسرخي ځای پريمنځل فرض دي لمافي شرح التنوير: وفي البرهان يجب غسل بشرة لم يسترها الشعر كحاجب وشارب وعنفقة: قال ابن عابدين: (قوله لم يسترها الشعر) اما المستور فساقط غسلها للحرج ويستثنى منه ما اذا كان الشارب طويلاً يستر حمرة الشفتين لمافي السراجية من ان تخليل الشارب الساتر حمرة الشفتين واجب (الدر المختار على هامش ردالمحتار: 1/75)

الحكمة: كلنا يعلم ان الانسان اذا كان قذر الثياب والاعضاء اشمأزت منه النفوس وتحولت عنه القلوب والعيون وكذالك اذا اراد احد ان يقابل ملكا او اميراً فلابد من ان يلبس احسن الثياب وانظفها ويزيل ماعلى جسمه من الاوساخ والادران ومافي حكم هذا حتى لايراه في حالة تبغضه اليه، واذا كان الامر كذلك مع المخلوقين بعضهم لبعض فكيف يكون حال من يقف بين يدي رب الارباب وملك الملوك؟ ان الشارع الحكيم فرض الوضوء والغسل لاجل ان يكون الانسان خاليا من الاقذار والاوساخ عند اداء الفريضة. (حكمة التشريع)

داوداسه دسنتونو بيان

(1) وسننه غسل يديه إلى رسغيه ابتداءً (7) كالتسمية (8) والسواك (9) وغسل فمه (10) وانفه بمياه (11) وتخليل لحيته (12) وأصابعه (13) وتثليث الغسل (14) ونيّته (15) ومسح كل رأسه مرةً (16) وأذنيه بمائه (17) والترتيب المنصوص (18) والولاء

ترجمه: او داوداسه سنتونه پريمنځل دي دخپلو لاسونو تر بند وپوري په پيل كې، لكه څرنګه چې په پيل كې بسم الله ويل، او مسواك وهل، او خوله پريمنځل، او پوزه پريمنځل په جلا جلا اوبو سره، او خلال دږيري، او دګوتو، او داعضاء اودس دري ځله پريمنځل، او داوداسه نيت كول، او دټول سر مسح كول يوځل،

اودداړوغوږونومسح کول دسرپه اوبوسره، اودمنصوص ترتيب لحاظ کول، اواندامونه پرله پسي پريمنځل.

تشريح:سنت :لغة سنت مطلق طريقي ته ويل کيږي خواه که ښه وي اوکه ښه نه وي اودشريعت په اصطلاح کې سنت هغه ته ويل کيږي په کوم چې نبی کريم ﷺ اويادنبی کريم ﷺ له صحابه کرامو ﷺ څخه يوه علی وجه العبادة له کله کله پريښودوسره هميشه والی کړی وي.

ف:دسنت عمل کونکې ته ثواب ورکول کيږي اوپريښودونکی يې دملامتيامستحق ګرځي فقيه ابوالليث رحمه الله فرمايي چې تارک سنت فاسق دی اومنکرسنت مبتدع دی .اونفل هغه دي چې نه يې تارک فاسق دی اونه يې منکرمبتدع دی. مصنف رحمه الله داوداسه دفرائضوله بيانولوڅخه وروسته داوداسه په سنتونو شروع کولوسره دي خبري ته اشاره وکړه چې په اودس کې واجب نشته که وای نوله نوله فرائضووروسته به يې واجب ذکرکول.

(۷)داوداسه په سنتونوکې ترټولولومړی سنت دمتوضی(اودس کونکی)داودس په پيل کې دواړه لاسونوتربندوپوري پريمنځل دي ځکه چې دنبی کريم ﷺ ارشاددی چې کله چې په تاسي کې څوک له خوب څخه راپاڅي نوخپل لاسونه دي په لوښي کې نه اچوي ترڅوچې يې دري ځلي ونه وينځي ،اولاسونه تربندوپوري پريمنځل فرض دي ځکه لاسونه دپاکی آله دي لهذادنوروانداونو دپاکی په حاصلولوکې دلاسونوهمدومره اندازه پريمنځل کافی دی دلاسونوپريمنځل له استنجاء څخه مخکې هم سنت دي اووروسته هم سنت دي.

(۸)قوله کالتسمية ای کماان التسمية سنة فی الابتداء کذالک غسل اليدين.داوداسه له سنتونوڅخه دوهم سنت داوداسه په پيل کې بسم الله ويل دي لقوله ﷺ «لاوضوء لمن لابسم» (يعنی چاچې دالله تعالی نوم ذکرنه کړ دهغه اودس نشته) مرادیې داوداسه دفضليت نفی ده يعنی اودس يې بغيرله تسميه صحيح ده مګرافضل نه ده.

ف:له سلفوڅخه دبسم الله الفاظ مختلف منقول دي ځيني وايي(بسم الله العظيم والحمدلله علی دين الاسلام) دي وايي. ځيني وايي چې (بسم الله الرحمن الرحيم) دي وايي،اوځيني وايي چې که (لااله الاالله یاالحمدلله یااشهدان لااله الاالله)يې وويله نوهم سنت اداء کيږي اوصحيح هم همداده چې په هرقسم ذکرکولوسره سنت اداء کيږي لمافی شرح التنوير :والبداية بالتسمية قولاً وتحصل بکل ذکر (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار: ۱/۸۰)

(۹)قوله والسواک ای واستعمال السواک، يعنی له مسواک څخه دمسواک وهل مراددي ځکه چې نفس مسواک سنت نه دی دمسواک وهل سنت دي داوداسه له سنتونوڅخه دريم سنت مسواک وهل دي ځکه چې نبی کريم ﷺ په مسواک وهلوباندي مواظبت کړی دی اودنبی کريم ﷺ فرمان دی «لولاان اشق علی امتی لامرتهم بالسواک عندکل وضوء » (يعنی که دامت لپاره سخت نه وای نومابه دوئ ته له هراوداسه سره دمسواک وهلوحکم کاوه).

ف: مسواک بايدعرضاًووهل شي (دغاښوعرض دخولي طول)اومسواک دي دترخې ونې وي دګوتې په اندازه دي پلن وي اوديوي لويشتي په اندازه دي اوږدوي دمسواک دنيولوسنت طريقه داده چې دنبی لاس

خچې گوته تر مسواک لاندې وي او خنصر، بنصر او سبابه پورته وي او بټه گوته د مسواک د سر لورته لاندې وي مسواک په مټ کې خلاف سنت مه نیسئ لانه یورث الباسور.

ف: مستحب داده چې مسواک دیوې لویشتې په اندازه وي، له پیل څخه تر یوې لویشتې دکم مسواک جوړول داستحباب خلاف دي او که له استعماله وروسته کم شي نو څه پرواه نه لري لمافي الشامیه (قوله وطول شبر) الظاهر انه في ابتداء استعماله فلایضر نقصه بعد ذالک (ردالمحتار: ۱/۸۵) مگر داسې مستحبات عموماً په اساني وغیره باندې مبني وي دا باید شرعي حکم ونه گڼل شي.

ف: په امدادالفتاح کې لیکلي دي چې مسواک داوداسه خاصیت نه دی بلکه له دې علاوه په نورو حالاتو کې هم مستحب دی مثلاً دخولې دبدبوئ په وخت کې، له خوب څخه دپاڅیدلو په وخت کې، لمانځه ته دتللو په وخت کې، کورته دننوتلو په وخت کې، کوم مجلس یا اجتماع ته دتللو په وخت کې، دتلاوت کولو په وخت کې لقول ابي حنیفة رحمه الله ان السواک من سنة الدین فتستوی فیه الاحوال کلها (الشامیه مع الدر: ۱/۸۳)

دمسواک پرځای دغابنو ددواء استعمال

ف: دمسواک پرځای دغابنو دواء او برش وغیره په استعمالولو سره که څه هم دمسواک مقصد (یعنی پاکي اوصفایي) خو حاصلیږي ځکه چې فقهاء لیکي چې دمسنون مسواک دنه وجود په صورت کې دجامې او گوتې په مښلو سره هم سنتِ مسواک اداء کیږي مگر څرنگه چې دمسنون مسواک وهل جلا سنت دی نو بنکاره خبره ده چې په برش وغیره سره داسنت نه اداء کیږي لهذا دمسواک دوهلو سنت صرف د زیتون، پیلو او نیم وغیره ددرختو په مسواک سره حاصلیږي او ویل کیږي چې داتر ټولو گټور هم دي.

(۱۰) داوداسه له سنتونو څخه څلورم او پنځم سنت دخولې پریمنځل او په پوزه کې اوبه اچول دي ځکه چې درویشتو صحابه کرامو ﷺ دنبی کریم ﷺ داوداسه طریقه نقل کړې ده دوئ ټولو په خوله پریمنځل او په پوزه کې اوبه اچول نقل کړي دي.

ف: دمضمضې او استنشاق طریقه داده چې اول به درې ځله خوله ومینځي او هرځل نوې اوبه استعمال کړي او بیا همدا شان درې واره پوزې ته اوبه واچوي او هرځل نوې اوبه استعمال کړي، دامام شافعی رحمه الله په نزد افضله داده چې په یوه لپه اوبو سره مضمضه او استنشاق دواړه وکړي داستنشاق لپاره نوې اوبونه راواخلي داحنافو وشوافعو دا اختلاف دافضلیت او نه افضلیت دی دسنت یا نه سنت اختلاف نه دی.

(۱۱) داوداسه له سنتونو څخه شپږم سنت دږیرې خلالول دي، لقوله ﷺ اتاني جبرئیل فقال اذا توضئت فخلل لحيتک ﴿نبی کریم ﷺ وفرمایل چې ماته جبرئیل علیه السلام راغی او ویې ویل چې کله اودس کوې نو خپله ږیره خلالوه﴾، وعن عثمان رضي الله عنه ان النبي ﷺ کان یخلل لحیته (یعنی نبی کریم ﷺ خپله ږیره خلالوله).

ف: دتخلیل لحیه (دږیرې خلالولو) په باره کې له علماو څخه څلور قولونه منقول دي. نمبر ۱ – واجب ده داد سعیدبن جبیر او عبدالحکم مالکي قول دی. نمبر ۲/ له امام ابویوسف رحمه الله او امام شافعی رحمه الله او یوه روایت له امام محمد رحمه الله څخه داده چې دږیرې خلالول سنت دی وهو الاصح لمافي ردالمحتار: ورجح في

المسـوط قول ابي يوسف الخ وفي شرح المنية: والادلة ترجحه وهو الاصح (ردالمحتار:١/٨٦). نمبر ٣. دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد مستحب ده. نمبر ۴. له طرفينو څخه يو روايت دا دی چې جائزده.

(۱۲) قوله واصابعه اى ومن سنن الوضوء تخليل اصابعه، يعني داوداسه له سنتونو څخه اووم سنت دګوتو خلاول دي لقوله ﷺ لابن عباس رضي الله عنه اذاتوضئت فخلل اصابع يديک ورجليک (کله چې ته اودس کوي نو دخپلولاسونو اوپښوګوتي خلالوه).

سوال: نبی کريم ﷺ دامرپه صيغه سره دخلال حکم کړی دی اوامردوجوب لپاره ده نوخلال اصابع (دګوتوخلالول) بايد واجب شي؟

جواب: څرنګه چې په اوداسه کې کوم واجب نشته څکه نوخلال اصابع هم واجب نه دی ،اوپه اودس کې واجب په دي وجه نشته چې اودس دلمانځه شرط دی لهذا اودس دلمانځه تابع دی نوکه په اوداسه کې واجب راشي نوتابع به له اصل سره برابرشي اوهمدا شان په اودس کې دلاسونو اوپښوپريمنځل فرض دي اوپه خلالولوسره په محل فرض کې اکمال راځي اوپه اودس کې چې په کوموشيانوسره دفرضواکمال دهغوپه محل کې راځي هغه شی سنت وي په دي وجه تخليل اصابع سنت دی.

ف: دګوتودخلالولو طريقه داده چې ديوه لاس باطن دبل لاس په ظاهرباندي کښيږدي اودلاندي لاس دګوتوخلال وکړي اودپښودګوتودخلالولوطريقه داده چې دچپه لاس خچې ګوته دپښودګوتوپه منځ کې داخله کړي اودراسته پښي دخچې ګوتې څخه به يې شروع کړي اودچپه پښې په خچې ګوته به يې ختم کړي ،هذاهوالمذکورفي الکتب المعتبرة.

(۱۳) قوله وتثليث الغسل اى ومن سنن الوضوء تثليث الغسل،يعني داوداسه په سنتونوکې اتم سنت دري دري ځله داندامونو پريمنځل دي﴿لان النبی ﷺ توضامرة مرة وقال هذاوضوء من لايقبل الله الصلوة الابه وتوضامرتين مرتين وقال هذاوضوء من يضاعف الله له الاجرمرتين وتوضاثلثاثلثاوقال هذاوضوئي ووضوءالانبياء من قبلي فمن زادعلى هذااونقص فقدتعدى وظلم﴾يعني نبی کريم ﷺ يويوځل اندامونه وپريمنځل اوويې فرمايل چې دادسي اودس دی چې له دي بغيرالله تعالى لمونځ نه قبولي اودوه دوه ځله يې اندامونه وپريمنځل اوويې فرمايل دادهغه شخص اودس دی دچالپاره چې الله تعالى ثواب دوچنده کوي اودري دري ځله يې اندامونه وپريمنځل اوويې فرمايل دازمااودس دی اوله ماڅخه دمخکينيوانبيا اودس دی نوکه چاپه دي باندي زيادت وکړاويايې له دي څخه کمښت وکړنوهغه له حد څخه تجاوز وکړاوظلم يې وکړ.

ف: دحديث شريف په اخرکې چې فرمايلي دي چې فقدتعدی وظلم داوعيدهغه وخت دی چې يوڅوک په دي اعتقادسره په دري واره زياتوالی وکړي چې کامل سنت په دري ځله نه حاصليږي کنه دشک په صورت کې چې داطمينان قلب لپاره تردري ځله زيات وپريمنځل شي نوپه دي صورت کې داوعيد نشته لمافي الشامية: من الاسراف الزيادة على الثلاث اى في الغسلات مع اعتقادان ذلک هوالسنة فاذالم يعتقدذالک وقصدالطمانينة عندالشک فلاکراهة (ردالمحتار:١/٩٧)

ف: په دي شرط چې داشک کله کله پيښيږي که نه چاته چې هميشه داشک وي اودوسواس په مرض اخته وي دهغه لپاره تردري ځلي زياتوب کولوپه صورت کې داوعيدپه هرحال کې ده اودي شخص ته ددي شک

لورته التفات کول په کارنه دي.لقطعالمادة الوسواس لمافي الدرالمختار:ولوزادلطمانينة القلب ....فلاباس وفي الشامية : وينبغي ان يقيدهذابغيرالموسوس اماهوفيلزمه قطع مادة الوسواس عنه وعدم التفاته الى التشكيک لانه فعل الشيطان وقدامرنابمعاداته ومخالفته(الدرالمختار مع الشامية: ۱/۸۸)

(۱۴)قوله ونيته اى ومن سنن الوضوء نية الوضوء .يعني داوداسه له سنتونو څخه نهم سنت داوداسه نيت کول دي په نيت کې په څلوروځايونوکې خبره ده دنيت په صفت کې .دنيت په کيفيت کې .دنيت په وخت کې ،اودنيت په محل کې.

دنيت صفت دامام قدوري رحمه الله په نزداستحباب دی يعني په اوداسه کې نيت مستحب دی ليکن دصاحب کنزالدقائق خبره صحيح ده چې نيت په اوداسه کې سنت ده لمافي الهندية :وعدالقدوری النية والترتيب والاستيعاب من المستحبات وعدهاصاحب الهداية والمحيط والتحفة والايضاح والوافي من السنن وهو الاصح(هندية: ۱/۹)، دنيت کيفيت دادی چې متوضی (اودس کونکی) نويت ان اتوضأللصلوة تقربالى الله .يانويت استباحة الصلوة. يانويت رفع الحدث.يانويت الطهارة ووايې دااخرني دوه بنه دي ځکه چې دااستباحة المصحف اودخول المسجدوغيره ته هم شامل دي په کوم وخت کې متوضی مخ مينځي دادنيت وخت دی اودنيت محل دمتوضی زړه دی په ژبه سره دنيت تلفظ کول مستحب دي.

په اوداسه کې دنيت حکم

ف:داحنافوپه نزدپه اودس کې نيت کول سنت دي اودنوروائمه وپه نزدفرض دي ددعوئ دليل دنبی کريم ﷺ دارشاد﴿انماالاعمال بالنيات﴾ دی يعني عملونه په نيتونوموقوف دي اواودس هم يوعمل دی لهذادابه هم په نيت موقوف وي داحنافودليل دادی چې نبی کريم ﷺ يوه کوچې ته داوداسه تعليم ورکاوه مګردنيت تعليم يې ورنه کړنو که نيت فرض وای نونبی کريم ﷺ به ضرورهغه ته دنيت تعليم هم ورکاوه .

(۱۵)قوله ومسح کل راسه مرة اى ومن سنن الوضوء مسح کل راسه مرة .يعني داوداسه له سنتونو څخه لسم سنت يوځل دټول سرمسح کول دي امام قدوري رحمه الله دټول سرمسح مستحب بللي ده مګرصحيح قول دصاحب کنزالدقائق دی چې دټول سرمسح کول سنت ده ځکه چې حضرت عبدالله بن زيد رضي الله عنه له نبی کريم ﷺ څخه دټول سرمسح کول نقل کړي دي . وفي الهندية :الفصل الثالث في سنن الوضوء ومنهامسح کل الرأس مرة کذافي المتون(هندية: ۱/۷)

ف:دمسح لپاره دي يوځل اوبه راوخيستلي شي نوکه چاپه نويواوبوسره له يوځل څخه زياته مسح وکړه نودامکروه ده هوديوځل اوبوپه راخيستلوسره که يې دوه يادري ځله په سرلاس تيرکړنوڅه پرواه نه لري ، لمافي الشامية:روى الحسن عن ابى حنيفة في المجرد:اذامسح ثلاثابماء واحد کان مسنونا.........لومسح ثلاثابمياه قيل يکره وقيل انه بدعة وقيل لاباس به......قلت:لکن استوجه في شرح المنية القول بالکراهة(الشامية: ۱/۸۹)

دسر دمسح طريقه

ف:دسر د مسح کولو طريقه داده چې دواړه لاسونه لانده کړي اودهرلاس دري دري ګوتي دسرپه مخکني حصه کښيږدي اودشهادت دواړه ګوتې اوبتې ګوتې اوورغوي جلاونيسي اوبياګوتې په کښولوسره دشالورته ويسي اوبيادشاله لوري دواړه ورغوي دسرپه دواړه طرفوباندي په راکښولوسره دمخ طرف ته راوړي اوبياپه دواړوبتوګوتوسره دغوږونودبهر کاره طرف اودشهادت په ګوتوسره دغوږونو ددننه طرف مسح وکړي په دي دول به دورغوواوبتوګوتودمستعملواوبوله دوهم ځل استعمال څخه وږغورل شي .دمسح داخاصه طريقه صاحب منيه ليکلي ده مګرمحقق ابن الهمام ددي خاصي طريقي ترديد کړی دی چې ددي ثبوت په کوم روايت کې نشته بلاوجه تکلف دی ځکه چې په لاسونوچې کوم لوندوالی دی دی دهغه په تکراراستعمال کې کوم قباحت نشته ځکه چې اوبه ترهغه وخته مستعملي نه ګرځي ترڅوچې له اندام څخه جلانه شي لماقال ابن عابدين وماقيل من انه يجافي المسبحتين والابهامين ليمسح بهماالاذنين والکفين ليمسح بهماجانبي الراس خشية الاستعمال فقال في الفتح لااصل له في السنة لان الاستعمال لايثبت قبل الانفصال والاذنان من الراس (ردالمحتار: ۸۹/۱)نو دمسح مسنونه طريقه داده چې دسرپه اولني حصي باندي ددواړولاسونوورغوي اوګوتې کښيږدي اوترغاړي پوري يې په داسي دول ويسي چې له دي څخه دټول سراحاطه وشي لمافي الشامية:والاظهران يضع کفيه واصابعه علی مقدم رأسه ويمدهماالی القفاء علی وجه يستوعب جميع الرأس(مخکنی حواله)

(۱۶)قوله واذنيه بمائه ای ومن سنن الوضوء مسح الاذنيه بمائه .يعني داوداسه له سنتونوڅخه يولسم سنت ددواړوغوږونومسح کول دي ځکه چې له حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی فرمايي ﴿الااخبرکم بوضوء رسول الله فاخذغرفة فمسح براسه واذنيه﴾ (يعنی زه ته تاسي ته دنبی کريم ﷺ داوداسه طريقه نه دروښيم ؟بيايې يوه لپه اوبه راواخيستي اودسرمسح يې وکړه اودغوږومسح يې وکړه)

ف:پورته ذکرشوی حديث په دي لحاظ سره هم داحنافودليل دی چې دغوږومسح دسرله مسح سره مسنون ده په نورو اوبومسنونه نه ده ،دامام شافعی رحمه الله په نزددغوږومسح په نورواوبوسره مسنونه ده ځکه چې غوږونه مستقل اندام دي زموږدليل دنبی کريم ﷺ ارشاددی چې ﴿الاذنان من الرأس﴾ يعنی دمسح په باب کې غوږونه له سرڅخه جلانه دي، دغوږودمسح طريقه داده چې په دواړوبتوګوتوسره دغوږوبهر کاره طرف مسح کړي اودشهادت دګوتوپه باطن سره دغوږوباطن مسح کړي اودغوږوپه غاړونوکې ګوتې دننه کول ادب دي سنت نه دي.

ف:البتة که په سرله مسح کولووروسته په لاسونوکې لوندوالی پاته نه شونودغوږولپاره نوري اوبه راخيستلی شي لمافي الشامية:قال في الفتح:واذاانعدمت البلة لم يکن بدمن الاخذ(ردالمحتار: ۹۰/۱)

(۱۷)قوله والترتيب المنصوص ای ومن سنن الوضوء الترتيب المنصوص .يعنی داوداسه له سنتونوڅخه دولسم سنت داده چې په هغه ترتيب سره اودس وکړه په کوم ترتيب چې الله تعالی اعضاء وضوپه قرآن کريم کې ذکرکړي دي دامام قدوری رحمه الله په نزدپه اوداسه کې ترتيب مستحب دی مګردکنزالدقائق دمصنف خبره صحيح ده چې په ترتيب سره اودس کول هم سنت دي لمافي الهندية:وعدالقدوری النية والترتيب والاستيعاب من المستحبات وعدهاصاحب الهداية والمحيط والتحفة والايضاح والوافي من السنن وهوالاصح(هنديه: ۸/۱)

ف: دامام شافعي رحمه الله په نزد په ترتيب سره اودس كول فرض دي ځكه چې په ايت كريمه ﴿إذا قمتم إلى الصلوة فاغسلوا وجوهكم الآية﴾ كې فاء دتعقيب لپاره ده اوتعقيب دترتيب په معنى دلالت كوي ځكه چې دتعقيب معنى ده دمابعد په ماقبل مرتب كيدل نوله ايت څخه دقيام الى الصلوة (دلمانځه لپاره دريدل) اوغسل وجه په منځ كې ترتيب ثابت شواوځرنګه چې پاتې اعضاء په غسل وجه باندي معطوف دي نوپه دي وجه به په هغوكې هم ترتيب ثابت وي.

زمونږدليل دادى چې كه چيرته مونږ داتسليم هم كړوچې فاء دتعقيب لپاره ده نوددي مطلب دادى چې داعضاء اربعه و دمجموعي غسل په قيام الى الصلوة مرتب دى نودقيام الى الصلوة اوداعضاء اربعه دمجموعي په غسل كې ترتيب ثابتيږي نه داعضاء اربعه تر منځ ، ځكه چې داعضاء اربعه په منځ كې واؤذكرشوى دى اوداهل لغت اجماع ده چې واؤ دمطلق جمع لپاره راځي مګرځرنګه چې نبى كريم ﷺ دقران په ذكرشوى ترتيب سره اودس كړى دى په دي وجه په اوداسه كې ترتيب سنت دى.

(١٨)قوله والولاء اى ومن سنن الوضوء الولاء، يعني داوداسه له سنتونوڅخه ديارلسم سنت دادى چې داوداسه اندامونه پرله پسي پريمنځل شي په دي ډول چې ديوه اندام له وچيدلوڅخه مخكې بل اندام پريمينځې ديوه اندام له پريمنځلوروسته دبل اندام په پريمنځلوكې دومره ځنډكول چې اولنى اندام وچ شي دسنت خلاف دى (په دي شرط چې داندامونووچيدل دكوم عذرياتيزباد يااودس كونكي په بدن كې دسختي ګرمى له امله نه وي)ځكه چې نبى كريم ﷺ اودس پرله پسي كاوه، دامام مالك رحمه الله په نزدتوالي في الوضوء (په اوداسه كې پرله پسي اندامونه پريمنځل) فرض دي .

داوداسه دمستحباتوبيان

(١٩)ومستحبه التيامن (٢٠)ومسح رقبته

ترجمه:اوداوداسه مستحبات له راسته اندامه شروع كول ،اودغاړي مسح كول دي .

تشريح:مستحب په لغت كې محبوب اوښه ته ويل كيږي اود اصوليينو په اصطلاح كې مستحب هغه دى په كوم چې نبى كريم ﷺ مواظبت(هميشه توب)نه وي كړى اودكوم په باره كې چې نبى كريم ﷺ رغبت ښكاره كړى وي كه څه هم پخپله نبى كريم ﷺ هغه نه وي كړى ،مستحب ،مندوب اوادب ټول سره يودي .

(١٩)داوداسه له مستحباتوڅخه يودادى چې داندامونه دپريمنځلوپه وخت كې له راسته اندامه شروع وكړل شي نوپه لاسونواوپښوكې اول راسته لاس اوراسته پښه پريمنځل شي بياچپه ،ولى چې نبى كريم ﷺ په هرشي كې له ښي ارخه شروع كول خوښول تردي چې په پائزارپښوكولوكې يې هم اول ښى پائزارپښوكول خوښاوه ،قول صحيح هم همدادى چې تيامن(له ښى اندامه شروع كول) مستحب دى .

سوال:په تيامن باندي خونبى كريم ﷺ مواظبت كړى دى بايد چې سنت واى ؟

ځواب:دنبى كريم ﷺ مواظبت على سبيل العادة (دعادت په ډول) وونه على سبيل العبادة ،اوپه سنتوكې مواظبت على سبيل العبادة معتبردى .

(۲۰)قوله ومسح الرقبة اى ومن مستحبات الوضوء مسح الرقبة،يعني داوداسه له مستحباتوڅخه يودادی چې ددواړولاسوپه شاباندي دغاړي مسح وکړي دلاسونوپه شاباندي دمسح كول وجه داده چې دشادلوري اوبه تراوسه پوري نه دي مستعملي شوي ،دصحيح قول مطابق مسح رقبة(دغاړي مسح) مستحب ده ځکه چې دنبی کریم ﷺ داوداسه په طريقه کې مروی ده چې ومسح على راسه للاثاروظاهراذنيه للاثاروظاهررقبته الخ وفي الشامية :ومسحه التيامن ومسح الرقبة لاالحلقوم(ردالمحتار:۱/۳۱)دځينوپه نزددغاړي مسح سنت ده اودځينوپه نزدنه سنت ده اونه مستحب اودځينوپه نزدبدعت ده مګردحلقوم (غاړي) مسح بدعت ده .

ف:واضحه دي وي چې داوداسه مستحبات نورهم ډيردي لمافي فتح القديران المندوبات نيف وعشرون ترک الاسراف والتقتير وكلام الناس والاستعانة والتمسح بخرقة يمسح بهاموضع الاستنجاء ونزع خاتم عليه اسمه تعالى واسم نبيه حال الاستنجاءالى اخره له دي ماسواډيرمستحبات علامه شامی په ردالمحتاركې ذكركړي دي من شاءفليراجع اليه(ردالمحتار:۱/۱۲۴)

داوداسه دنواقضوبيان

(۲۱)وَيَنْقُضُهُ خُرُوجُ نَجِسٍ منه(۲۲)وَقَيْءٌ مَلَأَفَاهُ وَلَوْ مِرَّةً اوعَلَقًا او طَعَامًا اومَاءً(۲۳)لَابَلْغَمًا(۲۴)اودَمًا غَلَبَ عليه الْبُصَاقُ(۲۵)وَالسَّبَبُ يَجْمَعُ مُتَفَرِّقَهُ

ترجمه:اواودس ماتوي دمرداري وتل له لمونځ كونكي څخه ،اوپه ډكه خوله قی كول اودس ماتوي كه څه هم زيړي اوبه يا ځنډه وينه وي ياخوراک وي يااوبه وي ،نه بلغم،ياداسي وينه چې پرې ډيري وي ناړي ،اوسبب جمع كوي متفرق قی لره.

تشريح:كله چې مصنف صاحب رحمه الله داوداسه له فرائضواوله دفرائضوله مكملاتوفارغ شونو دهغو اموروپه بيان يې شروع وكړه چې هغه رافع اوماتونكي داوداسه دي ځكه چې دشی رفع كونكی او ماتونكی دشی له وجودڅخه وروسته وي،دنقض نسبت چې اجساموته وشي نومعنى يې دجسم تاليف اوتركيب باطلول دي اوكه دنقض نسبت معانيوته وشي نوپه دي وخت كې يې معنى داده چې معنى دمطلوب له فائده كولوڅخه باسي دلته اودس ځرنګه چې له معانيوڅخه ده نودنقض وضوء معنى داده چې اودس دمطلوب يعنى لمانځه لپاره اوس مفيدنه دی يعنى لمونځ نه صحيح كيږي .

(۲۱)له نواقض وضوء (داوداسه له ماتونوكو شيانو) څخه يودادی چې دمتوضی له بدن څخه مرداري ووځي بيانوكه خارج من السبيلين وونوپه نفس راوتلويې اودس ماتيږي لقوله ﷺ ﴿لاينقض الوضوء الاماخرج من قبل اودبر﴾(يعنى اودس نه ماتوي مګر هغه څه چې له قبل يادبرڅخه ووځي)دماكلمه عامه ده معتاداوغيرمعتاد دواړوته شامله ده،اوكه خارج من غيرالسبيلين وو نوپه هغه كې شرط دادی چې صرف ظهوربه يې نه وي بلكه چې په بهيدلوسره دداسي ځای لورته تجاوز وكړي چې په اوداسه ياغسل كې دهغه دپريمنځلوحكم شوی وي ځكه چې داودس ماتونكي هغه وينه ده چې وبهيږي ،اوله زخم څخه تجاوزنه كونكي وينه ځرنګه چې بهيدونكي وينه نه ده لهذاپه دي سره اودس نه ماتيږي .

ف: که وینه دزخم پرسر ښکاره شوه مګرونه بهیدله نو اودس نه ماتیږي لماقلنا. دامام محمد رحمه الله په نزد دزخم پرسر ښکاره شوي وینه که دزخم له مقدار څخه زیاته وه مګر بهیدلي نه وه بیاهم اودس ماتیږي لیکن اولنی قول صحیح دی لماقی الهندیة: الدم اذا علا علی راس الجرح لاینقض الوضوء وان اخذ اکثر من راس الجرح والفتوی علی انه لاینقض وصونه فی جنس هذه المسائل (هندیه: 1/10)

ف: دامام شافعي رحمه الله په نزد له غیرسبیلین څخه وتونکی شی اودس نه ماتوي ځکه چې له سبیلین څخه دنجاست دوتلو په صورت کې دعضاء اربعه دپرېمنځلو حکم امرتعبدی (یعني خلاف قیاس) دی لهذا پردې باندې دخارج من غیرسبیلین قیاس نشي کیدلای، زموږ دلیل دنبی کریم ﷺ داارشاددی، چې الوضوء من کل دم سائل (اودس له هربهیدونکې وینې څخه دی).

په انجکشن (ستنه) سره داودس دماتیدلو بیان

ف: په وریدی انجکشن (یعني هغه ستن چې په رګ کې لګیږي) سره اودس ماتیږي ځکه چې درګ په ستنه کې اول دستنی په سرکې وینه ایستل کیږي اوترڅو چې په پچکاری کې وینه ښکاره نشي ترهغو پورې ستن نه لګول کیږي لهذا په دې سره اودس ماتیږي، پاتې شوه دغوښې اوپوستکی ستن نوپه هغې کې وینه نه ایستل کیږي ځکه نوپه هغې سره داوداسه ماتیدل ضروري نه دي مولانا خالد سیف الله رحماني صاحب مدظلهم لیکي له دباندې څخه دغذاء یادواء په صورت کې دیوشئ ننوتل اودس نه ماتوي، په ستن باندې دجسم څه وینه لګیږي په دومره اندازه دوینې وتل هم اودس نه ماتوي ځکه چې هغه دومره لږوي چې بهیږي نه همدارنګه فقهاء وایي چې که له جسم څخه وینه ووځي اوهغه پاکه کړای شي اودهغې اندازه دومره کمه وي چې که پاکه شوي نه وای نوهم به نه وای بهیدلي نوپه دې صورت کې اودس نه ماتیږي .... ووکه ستنه دوینې دکښلو اوراکښولو لپاره وه نوپه هغې سره اودس ماتیږي. (جدید فقهی مسائل 97/1، اواحسن الفتاوی: 23/2)

ف: که چیرته داسې زخم وو چې له هغه څخه وینه راوتله اوپه جامه لګیدله نوکه په یوه مجلس کې په مختلفو وارونو سره په جامه لګیدلي وینه دومره وه چې که جامې نه وای جذب کړي نوبهیدلي به وای نو اودس ماتیږي که نه نو نه ماتیږي اوکه په یومجلس کې خودومره وینه په جامه ونه لګیدله مګر دمختلفو مجالسو مجموعه دومره کیدله نوهغه ماتونکي نه ده قال علامه ابن عابدین الشامي: (قوله لومسح الدم کلما خرج الخ) وکذا اذا وضع علیه قطنة وشیئا اخر حتی ینشف ثم وضعه ثانیا وثالثا فانه یجمع جمیع مانشف فان کان بحیث لوترکه سال نقض وانما یعرف هذا بالاجتهاد وغالب الظن وکذا لو القی علیه رمادا اوترابا ثم ظهر ثانیا فتربه ثم وثم فانه یجمع قالوا وانما یجمع اذا کان فی مجلس واحد مرة بعد اخری فلوفی مجالس فلا تاتر خانیه (ردالمحتار: 1/100)

په قی سره داودس دماتیدلو بیان

(22) قوله ولی ملأفاه ای ینقضه قی ملأفاه، یعني داوداسه له ماتونکوڅخه په ډکه خوله سره قی کول دي ځکه چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې له اوو شیانو څخه دي اودس بیرته وکرل شي په دي اوو

شیانو کې یو په ډکه خوله قی کول دي ،بیاقی په پنځه قسمه دی ،خالص پت وي ،خالص وینه وي ،خالص خوراک وي،خالص اوبه وي،خالص بلغم وي اولني څلورقسمه خوباتفاق ائمه ثلاثه داودس ماتونکي دي.

(۲۳)قوله لابلغما ای لاینقضه اذاقاء بلغما،پنځم قسم قی داده چې خالص بلغم قی کړي نوکه بلغم نازل من الرأس (له سرڅخه راغلی)وو نوباتفاق ائمه ثلاثه ناقض وضوء نه دي ځکه چې سراودماغ دنجاست ځای نه دی اوکه بلغم له نس څخه راوتلی وونودطرفینورحمهماالله تعالی په نزداودس نه ماتوي ځکه چې په بلغمو کې لزوجت وي چې دهغه له کبله په دوئ کې نجاست نشي ننوتلای اوله دوئ سره لګیدلی نجاست دلږوالی له امله ماتونکی نه دی ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزداودس ماتوي ځکه چې دمعدي دنجاست سره داتصال له امله بلغم هم نجس ګرځي.

ف:په ډکه خوله قی داده چې بغیرله سختۍ دده درول ممکن نه وي اوهمدا صحیح ده لمافی الهندیة:والحدالصحیح فی ملء الفم ان لایمکنه امساکه الابتکلف ومشقة (هندیة:۱/۱۱)خیني وایي چې دومره اندازه قی چې له هغه سره خبري کول ممکن نه وي په ډکه خوله قی ګڼل کیږي.

(۲۴)قوله اودماغلب عطف علی بلغما ای ولاینقضه اذاقاء دما غلب الخ ،که یې دومره وینه قی کړه چې ناړي پري غالبې وي یعنی له وینوڅخه ناړي ډیري وي نودغالب په اعتبارکولوسره په دي وینه اودس نه ماتیږي ځکه چې داپخپله بهیدونکي وینه نه ده بلکه دناړوله امله بهیږي هوکه چیرته ناړي مغلوبې وي اووینې غالبې وي نوپه دي سره اودس ماتیږي ځکه چې داسې وینه بهیدونکې وینه وي اوکه دواړه سره برابري وي نوپه دي صورت کې احتیاطاداوداسه دماتوالی حکم کیږي.

ف:په وینه اوناړوکې دیوغلبه (ډیروالی) په رنګ سره معلومیږي که یې رنګ سورروو نووینه ډیره ده اوکه زیړوو نوناړي ډیري دي لمافی الشامیة :وعلامة کون الدم غالبااومساویاان یکون البزاق احمروعلامة کونه مغلوباان یکون اصفر(ردالمحتار:۱/۱۰۲)

(۲۵)که یوچاڅوځله قی وکړاوهرځل له ډکې خولې څخه کم وو مګرکه داټول سره راجمع کړي نوډکې خولې اندازي ته رسیدونو ددي حکم دادی چې ټول قی به سره راجمع کړای شي مګرپه یوشرط هغه شرط دامام ابویوسف رحمه الله په نزد اتحادمجلس دی نو دده په نزدبه هغه قی سره راجمع کیږي چې په یوه مجلس کې وي خواه که دقی سبب یووي اوکه متعدد ځکه چې دمتفرقاتوپه جمع کولوکې مجلس ډیردخل لري لکه څرنګه چې دایت سجده په تلاوت کې دوحدة مجلس دخل دی،اودامام محمد رحمه الله په نزدهغه شرط وحدة سبب دی چنانچه دده په نزدهغه قی جمع کیږي دکوم چې سبب یووي خواه که مجلس یووي اوکه نه وي ځکه چې حکم دسبب دثبوت مطابق کیږي لهذا دسبب په یووالی سره حکم متحد کیږي، والاصح قول محمد رحمه الله لماقال شارح التنویر:ویجمع متفرق القئ لاتحادالسبب وهوالغثیان عندمحمدوهوالاصح (الدرالمختارمع ردالمحتار:۱/۱۰۳)

ف:په واروارډلږلږقی کولوڅلورصورتونه دي په دووکې دصاحبینواتفاق دی اوپه دووکې اختلاف دی (۱)مجلس اوسبب قی دواړه متحدوي په دي صورت کې په اتفاق سره اودس ماتیږي (۲)دواړه مختلف وي یعنی نه مجلس متحدوي اونه دقی سبب یو وي په دي صورت کې بالاتفاق اودس نه ماتیږي (۳)مجلس یووي اوسبب مختلف وي په دي صورت کې اختلاف دی د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد اودس ماتیږي

اوداامام محمد رحمه الله په نزد اودس نه ماتيږي (۴) سبب يو وي او مجلس مختلف وي دا صورت د دريم صورت عکس دی يعنی دامام محمد رحمه الله په نزد اودس ماتيږي اودامام ابويوسف رحمه الله په نزد اودس نه ماتيږي اومخکی بيان شوچي دامام محمد رحمه الله قول اصح دی.

(۲۶) وَنَوْمُ مُضْطَجِعٍ وَمُتَوَرِّكٍ (۲۷) وَإِغْمَاءٌ وَجُنُونٌ وَسُكْرٌ (۲۸) وَقَهْقَهَةُ مُصَلٍّ بَالِغٍ وَلَوْ عِنْدَ السَّلَامِ (۲۹) وَمُبَاشَرَةٌ فَاحِشَةٌ (۳۰) لَا خُرُوجُ دُودَةٍ مِنْ جُرْحٍ (۳۱) وَمَسُّ ذَكَرٍ (۳۲) وَامْرَأَةٍ

ترجمه: اوخوب اودس ماتوي دپروت والا اودپه کوناتو تکيه کونکی والا، اوبي هوشي اوليوتوب اونشه، اوپه زوره خندل دبالغ لمونځ کونکي (اودس ماتوي) که څه هم دسلام په وخت کې وي، اومباشرت فاحشه، نه وتل دچينجي له زخم څخه، اومخصوص اندام ته لاس وروړل اوښځي ته.

په خوب سره داوداسه دماتيدلو بيان

تشريح: قوله ونوم مضطجع اى وينقضه ايضانوم مضطجع الخ، مصنف رحمه الله دنواقض حکميه بيان شروع کړ ځکه چې دخوب وغيره عين داوداسه ماتونکې نه دي بلکه هغه شيان ماتونکې دي له کوم څخه چې عادة خوب خالی نه وي، نوداوداسه له ماتونکو څخه نوم (خوب) دی که په اړخ بيده وي اويايې يو کوناتی پر ځمکه ايښی وي اودواړه پښې يې يوه طرف ته ايستلي وي ياپه تکيه لګولوسره اويايي کوم شي ته تکيه کړي اوويده وي په دي دول چې که هغه شی لرې کړای شي نودی به ولويږي په دي ټولو صورتونو کې اودس ماتيږي وجه يې داده چې دخوب له امله بندونه سستيږي کوم چې عادة ديوشی له وتلو څخه خالی نه وي اوکوم شی چې عادة ثابت وي دهغه شی ثبوت يقيني ګڼل کيږي البته که دقيام يا قعود ياسجدي په حالت کې (خواه که په لمانځه کې وي يا له لمانځه څخه دباندي) ويده شونوپه دادول خوب اودس نه ماتوي ځکه چې په دي حالتونو کې څه ناڅه امساک پاتي وي کنه داشخص به خامخا لويدونومعلومه شوه چې په دي حالاتو کې کامل استرخاء (دبندونو سستي) نشته لهذا اودس نه ماتيږي.

ف: حضرت مولانامفتی رشيداحمدصاحب نورالله مرقده دنوم قاعداودس لره دماتولودصورتونو تفصيل په عربی عباراتو له نقل کولو وروسته داسي ليکلي دي، نمبر۱: که يوشی ته له څنګ لګولو بغير ويده شواوونه لويدو ياله لويدلو سره راپاڅيدونواودس نه ماتيږي. نمبر۲: په هيئت مسنون سره دسجدي په حالت کې په خوب اودس نه ماتيږي که څه هم په لمانځه کې نه وي. نمبر۳: که چيرته تول له مقعده پر ځمکه نه وي اوپه ټيک لګولوسره ويده شو خواه که په خپل ورون يابل شی باندي هم وي نواودس مات شولهذاپه دواړه زنګنوپه کښيناستلوسره په ورانه يابل شي دتکيه لګولوپه صورت کې اودس ماتيږي اوهمداشان که په چارزانوکښينستی اوپه ورانه يې ټيک ولګاوه اودومره ټيټ شوچې تول له مقعده په ځمکه پاتي نه شوه نوهم اودس مات شوالبته که تول له مقعده پرځمکه پاتي شوه مثلاً زنګنونه يې ودرول اوپه لاسونويې ونيول يايې په جامه يابل شی له ملاسره وتړل اوپه زنګنويې سرکښيښود اوويده شوه اوياپه چارزانوکښينوست اوڅنګلي يې په ورنو کښيښودي ويده شواوصرف دومره ټيټ شوچې تول له مقعده يې پرځمکه پاتي وه

نواودس نه ماتیږي. نمبر ۴: اوکه توله مقعده پرځمکه وه اوټیک یې ولګاوه اودومره په سخت خوب ویده شوچې دهغه شی په پورته کولوسره لویدلونو په دي صورت کې اختلاف دی مفتی به داده چې نه ماتیږي.
(احسن الفتاوی: ۱/۲۳)

(۲۷) قوله واغماء وجنون ای ينقضه اغماء وجنون ،يعني داوداسه له ماتونکوڅخه اغماء (بي هوشي)، لیونتوب اودنشي له امله مستیدل دي ځکه چې په اغماء کې ترخوب بندونو ډیرسستیږي لهذا اغماء په طریقه اولی سره اودس ماتوي، اوپه لیونتوب کې دپاکې اوناپاکې تمیزنه پاتې کیږي لهذا لیونتوب په هرحال کې داودس ماتونکی ګڼل کیږي ،اوپه نشه کې مست ته هم دپاکې اوناپاکې تمیزنه پاته کیږي ځکه نوداهم اودس ماتوي.

ف: دنشي اندازه دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدداده چې کوم شخص دنراوښځي ترمنځ تمیزونه کړای شي هغه سکران دی، اودصاحبینوپه نزدسکران هغه ده چې دهغه په خبروکې ګډوډي اوهذیان (بي ځایه خبري) راشي دصاحبینوقول صحیح اومفتی به دی لمافی الشامية: (قوله وسكر) واختلف فی حده فقال الامام انه سرور يزيل العقل فلايعرف به السماء من الارض الخ وقالا بل يغلب عليه فيهزی فی اكثر كلامه ولاشك انه اذا وصل الى هذه الحالة فقد دخل فی مشيه اختلال الخ وقد جحروا قولهما فی الابواب الثلاثة قال فی حدود الفتح واكثر المشائخ على قولهما واختاروه للفتوى وفی نوالفض المجتبى الصحيح قولهما ای فلايشترط فی حده ان يصل الى ان يعرف الارض من السماء (ردالمحتار: ۱/۱۰۶)

ف: اغماء دزړه یادماغ یوناروغي ده له کومې څخه چې انساني قوی معطل کیږي کارنه کوي اوعقل مغلوبیږي مګرختمیږي نه، اوجنون داسي ناروغي ده چې په هغې کې عقل سلبیږي مګرقوی نه سلبیږي لمافی الشامية: (قوله وينقضه اغماء) هو كمافی التحرير آفة فی القلب اوالدماغ تعطل القوى المدركة والمحركة عن افعالها مع بقاء العقل مغلوبا........(قوله والجنون) صاحبه مسلوب العقل بخلاف الاغماء فانه مغلوب (ردالمحتار: ۱/۱۰۶)

دقهقهې بيان

(۲۸) قوله وقهقهة مصل ای ينقض الوضوء القهقهة الخ، داوداسه له ماتونکوڅخه دلمانځه په حال کې دلمونځ کونکې په زوره خندل دي که څه هم دسلام ګرځولوپه وخت کې وخاندي، مګرشرط داده چې لمونځ به درکوع اوسجدي والایې دجنازي لمونځ به نه وي لقوله ﷺ «الامن ضحک منکم قهقهة فليعد الوضوء والصلوة جميعا» (په یوه موقع باندي ځینوصحابه کرامو رضي الله عنهم دیوشي له امله په لمانځه کې وخندل نونبی کریم ﷺ وفرمایل خبردار! چاچې له تاسي څخه په زوره وخندل نوهغه دي داوداسه اولمانځه دواړواعاده وکړي) څرنګه چې دسلام په وخت کې هم دلمانځه حرمت باقي دی اوروایت مطلق دی نولهذا دسلام ګرځولوپه وخت کې هم په زوره خندل اودس ماتوي.

ف: دقیاس تقاضاداده چې بایدپه قهقه سره اودس مات نشي ځکه چې په قهقه سره کوم نجس شی نه خارجیږي په دي وجه نورائمه کرام په قهقه سره داوداسه دماتیدلوقائل نه دي مګراحنافودپورته ذکرشوي حدیث له امله قیاس پرېښی دی.

ف: له قهقې ښځه دبالغ اوویش قهقه(په زوره خندل) مراددي نوکه نابالغ اوویده په زوره وخندل دهغه اودس نه ماتيږي ځکه چې په قهقه زجراًاوعقوبةً داودس ماتونکي ده جبکه نابالغ اوویده دعقوبة اهل نه دي البتة قهقه څرنګه چې دخبروله قبیلې څخه ده په دې وجه ددوئ لمونځ په قهقه سره فاسدیږي.

ف: قهقه داسې خنداته ویل کیږي چې انسان یې خپله هم واوري اودڅنګ والایې هم واوري خواه که غاښونه ښکاره شي اوکه نه. قهقه دلمانځه اواوداسه دواړولپاره ماتونکي ده. ضحک داسې خنداته ویل کیږي چې انسان خویې پخپله واوري مګرڅنګ والایې نه واوري ضحک مبطل صلوة(دلمانځه باطلونکی)دی مګراودس نه پرې ماتیږي، اوتبسم داسې خنداته ویل کیږي چې نه یې انسان په خپله واوري اونه یې دڅنګ والاواوري تبسم نه مبطل صلوة دی اونه داوداسه ماتونکی دی.

(۲۹)قوله ومباشرة فاحشة ای وینقض الوضوء مباشرة فاحشة. یعنی د اوداسه له ماتونکو څخه یو مباشرة فاحشة دی یعنی د نر او ښځې د شرمګاه یو ځای کیدل بې له کومې پردې اودس ماتوي. د امام محمد رحمه الله په نزددمذي له وتلوبغیرمباشرت اودس نه ماتوي دقیاس تقاضاهم همدا ده ځکه چې سبب د مسبب پرځای هلته دریږي چیرته چې په مسبب باندې بلاحرجه خبریدل ممکن نه وي حال دا چې دلته په حقیقت حال خبریدل ممکن اواسانه دي. دظاهرالروایة دلیل دادی چې مباشرة فاحشة غالبا دمذی له وتلوڅخه خالي نه وي والغالب کالمتحقق، اوپه عباداتوکې احتیاطاسبب دمسبب پرځای درول کیږي ځکه نومباشرة فاحشة اودس ماتوي.

(۳۰)قوله لاخروج دودة ای لاینقضه خروج دودة. له زخم څخه دچینجي په وتلوسره اودس نه ماتیږي ځکه چې چینجی پخپله نجس نه دی په دې وجه چې چینجی له غوښې پیداکیږي اوخپله دغوښې لویدل اودس نه ماتوي نوله دې څخه دپیداشوي شی په راوتلوسره هم اودس نه ماتیږي هوهغه وینه یانونه بې شکه نجس دي کوم چې په چینجي موښتي وي مګرڅرنګه چې هغه ډیرلږدی اولږنجاست (په دې شرط چې له سبیلینوڅخه نه وي راوتلی) اودس نه ماتوي. لمافی الهندية: الدودة الخارجة عن رأس الجرح لاتنقض الوضوء (هندية:۱/۱۱)

ف: مصنف صاحب رحمه الله دمن جرح قید ولګاوه چې له زخم څخه راوتلی چینجی داوداسه ماتونکی نه دی په دې سره احترازوشوله هغه چینجی څخه چې له احدالسبیلین څخه راووځي ولي چې دداسې چینجي وتل اودس ماتوي ځکه چې خارج من السبیلین مطلقااودس ماتوي لمافی اللباب :(والمعاني الناقضة للوضوء کل ما)ای شئ:(خرج من السبیلین)ای مسلکی البول والغائط اعم من ان یکون معتاداًاولا نجساًاولا (اللباب علی هامش الجوهرة: ۲/۱)

(۳۱)قوله ومس ذکر ای لاینقضه مس ذکر. یعنی په مخصوص اندام لاس وهل اودس نه ماتوي. دامام شافعي رحمه الله په نزدمس ذکراودس ماتوي(لحدیث بسرة من مس ذکره فلیتوضا) (څوک چې ذکرمس کړي هغه دې اودس وکړي). زموږدلیل دحضرت علی بن طلق رضی الله عنه حدیث دی چې دیوچاپه پوښتنه کولوسره نبی کریم ﷺ وفرمایل هل هو إلا مضغة منک (چې هغه ستاد جسم یوټکړه ده) نولکه څرنګه چې په نوربدن په لاس وهلوسره اودس نه ماتیږي همداشان په مس ذکرسره هم اودس نه ماتیږي اوکوم چې دبسرة رضی الله عنها حدیث دي نودهغه په باره کې یحی بن معین رحمه الله وایي. ثلاثة احادیث لم تصح عن رسول الله ﷺ حدیث مس الذکر ولانکاح الابولی وکل مسکر حرام لهذا دبسرة رضی الله عنها حدیث داستدلال وړ نه دی.

(۳۲) قوله وامرأة بالجر عطف ذكر اى مس بشرة المرأة لاينقض الوضوء ،يعني ښځي ته لاس وروړل هم اودس نه ماتوي خواه كه په شهوت سره وي اوكه بي له شهوته وي،دامام شافعي رحمه الله په نزدمس امرأة اودس ماتوي لقوله تعالى ﴿ اولامستم النساء ﴾ (ياتاسي خپلي ښځي مس كړي وي) اومس حقيقة په لاس سره وي لهذا په لاس سره مس كول اودس ماتوي ،زموږدليل داده چې حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څوك چې ترجمان القرآن دى دلامستم تفسيرپه جماع سره كړى دى چې لامستم په معنى دجماع دى په دي وخت كې دايت مبارك ترجمه داده ياتاسي له خپلوښځوسره نزديكت كړى وي. اوهمداشان منقول دي چې نبى كريم ﷺ دخپلوځينوښځوڅخه مچه اخيسته اوبيابه لمانځه ته تللواواودس به يې نه كاوه.

دغسل دفرائضوبيان

(۳۳) وَفَرْضُ الْغُسْلِ غَسْلُ فَمِهِ وَأَنْفِهِ وَبَدَنِهِ (۳۴) لَا دَلْكُهُ (۳۵) وَإِدْخَالُ الْمَاءِ دَاخِلَ الْجِلْدَةِ لِلْأَقْلَفِ

ترجمه:اودغسل فرض پريمنځل دي دخولي،پوزي اوټول بدن ،نه د بدن مښل.اوتنه ايستل داوبودناسنته زيات پوستكى ته

تشريح:په غسل كې دري شيان فرض دي ،خوله پريمنځل ،په پوزه كې اوبه اچول اوپه ټول بدن اوبه تويول لقوله تعالى ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ﴾ (يعنى كه تاسي په حال دجنابت كې ياست نوښه پاكې حاصله كړئ) الله تعالى مكلفينوته على سبيل المبالغة دټول بدن دپريمنځلوحكم كړى دى البتة كه كوم خاى ته داوبورسول متعذروو نوهغه له دي حكم څخه وتلى دى لكه دسترګودننه حصه څكه چې دسترګودننه طرف په پريمنځلوكې ضررد ى همداوجه ده چې كه چاپه مردارو رانجوسترګې توري كړي نوهغه ته دسترګو دپريمنځلوحكم نه وركول كيږي په خوله اوبه رغړول اوپه پوزه كې اوبه اچول څرنګه چې متعذرنه دي لهذاپه جنابت كې ددوې پريمنځل دكتاب الله په حكم سره فرض دي

ف:په اصل كې دغسل ركن يودى اوهغه دادى چې دمغتسل (غسل كونكى) دبدن كومي كومي حصي ته چې بلاحرج اوبه رسول ممكن وي په هغه باندي يوځل اوبه تويول دي نوپه دي كې خوله پريمنځل اوپوزه پريمنځل هم داخل دي څكه چې خولي اوپوزي ته اوبه رسول ممكن دي مګرڅرنګه چې دخولي اوپوزي دپريمنځلوپه فرضيت كې دامام شافعي رحمه الله اختلاف دى څكه مصنف صاحب رحمه الله جلاپه دوئ دواړوتصريح وكړه.

دمصنوعي غاښ حكم

ف:كه غاښونه چينجووهل اوكوم بل علاج يې نه وواوداكترورويل چې په سپينوزوروبه يې دوكوي نوپه دي صورت كې په اوداسه كې كوم نقص نه راځي هوپه غسل كې اشكال كيداى شي څكه چې په غسل كې دخولي پريمنځل فرض دي ليكن فقهاوتصريح كړي ده چې دضرورت په ځايونوكې تركښته اوبه رسول ضروري نه دي.(فتاوى عثمانى:۳۱۳/۱)

ف: مصنوعي غابنونه په دو قسمه دي يو هغه چې په مستقله طريقه سره لګول شوي وي او بيا په اساني سره نه رااېستل كيږي ،اودوهم هغه دي چې دهغوجوړښت په دي ډول وي چې دضرورت په وخت كې استعمال كړاى شي اوكه يې ايستلو ته ضرورت وو وايستل شي په اولنى صورت كې دامصنوعى غابن داصلي غابن په درجه كې دى ځكه نودده حكم هم داصلي غابنونه دى په اوداسه كې دي غابنونوته اوبه رسول سنت دي اوپه غسل كې دغابنوايستلواوبيخ ته داوبو رسولو ضرورت نشته ، همداوجه ده چې فقهاوو داسي غابنونوا ينبودلو يادسرواوسپينوزروپه تارونه دتړلواجازت وركړى دى، ښكاره ده چې ددي اجازي مطلب همدادى چې ددوئ دننه حصي ته اوبه رسول ضروري نه دي كه نه دااجازه به ډيره پريشانونكي هم واى اوبي معنى هم ،حال داچې په دوم صورت كې دده حيثيت ديوه اضافه شى دى يعنى غسل به هغه وخت صحيح كيږي كله چې دى وايستل شي او اصل جسم ته اوبه ورسيږي كه چيرته داسي ونه شي نوغسل نه صحيح كيږي . (جديد فقهى مسائل: ۱/۹۴)

ف: مروجه سرخى،كريم وغيره دتيلوپه څيردي اوپوړدګرځ په څيردي دكوم له امله چې په اندامونو خور نه جوړيږي په دي وجه ددوئ له وجودسره هم اودس صحيح دى مګرداودس كولوپه وخت كې بايداول دوئ لانده شي اوبياپريمنځل شي البته كه سرخى ياكويم داسي ووچې له هغوئ ځخه دنوكانودرنګ په شان خورجوړيدله نوبيااودس اوغسل جائزنه دي. (حقانيه :۲/۵۱۱)

(۳۴)قوله لادلكه اى لايفترض دلك بدنه ،يعني په غسل كې دبدن مبنل فرض نه دي دامام مالك رحمه الله په نزدپه غسل كې دبدن مبنل فرض دي هغه يې دجامې په پريمنځلوقياسوي زموږدليل دادى چې دالله تعالى په ارشادفاطهروااكې دمطلق طهارت حكم شوى دى په دي په اضافه كولوسره دبدن دمښلوشرط په لګولوسره په مطلق زيادت لازميږي اوپه جامه قياس كول په دي وجه صحيح نه دي چې نجاست خوپه جامه كې دننه داخليږي مګرپه جسم كې نه داخليږي .

(۳۵)قوله وادخال الماء عطف على قوله لادلكه اى لايفترض ايضاادخال الماء داخل الجلد،يعنى كه څوك سنت شوى نه وي نودځينوعلماوپه نزدپه هغه باندي خپل دي زيات پوستكى ته اوبه رسول فرض دي ددوئ په نزددا په هرډول سره دظاهربدن په حكم كې دى لهذاددوئ په نزدپه غسل كې ترده اوبه رسول واجب دي اوكه دبولوڅاڅكى ترده راورسيدواودباندي راونه وتى نوهم اودس ماتيږي ، او دځينونوروپه نزددهغه پوستكى ته اوبه رسول فرض نه دي ددوئ په نزدپه غسل كې دهغه پوستكي حكم دباطن بدن دى ځكه چې په غسل كې په اوبورسولوكې حرج دى نيزداخلقة دشرمګاه دسورى په څيردى لهذادشرمګاه دسورى په څيردلته هم اوبه رسول ضرورى نه دي ،هوپه اوداسه كې دده حكم دظاهربدن دى لهذاكه ده ته دبولوڅاڅكى راورسيدونواحتياطااودس ماتيږي اوهمدا قول صحيح دى لمافى الدرالمختار(لا) يجب (غسل مافيه حرج كعين)..........(وثقب انضم و)لا(داخل قلفة)بل يندب هو الاصح قاله الكمال وعلله بالحرج.وقال ابن عابدين: وهذالانه اذاوصل البول الى القلفة ينقض الوضوء فجعلوه كالخارج فى هذاالحكم وفى الغسل كالداخل (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/۱۱۳)

دغسل دسنتونو بیان

(۳۶) وَسُنَّتُهُ أَنْ يَغْسِلَ يَدَيْهِ وَفَرْجَهُ وَنَجَاسَةً لَوْ كَانَتْ عَلَى بَدَنِهِ (۳۷) ثُمَّ يَتَوَضَّأَ (۳۸) ثُمَّ يُفِيضَ الْمَاءَ عَلَى بَدَنِهِ ثَلَاثًا (۳۹) وَلَا تَنْقُضُ ضَفِيرَةً إِنْ بَلَّ أَصْلَهَا

ترجمه: اود غسل سنتونه دادي چې پريمنځي خپل دواړه لاسونه او شرمګاه او مرداري که لګيدلي وه دده پربدن، بيادي اودس وکړي، بيادي توی کړي اوبه پرخپل بدن دري ځله، او ښځه دي خپله کوڅي نه خلاصوي که دويښتاو بيخونه لانده شول.

تشريح: (۳۶) دغسل مسنونه طريقه داده چې ترټولو مخکی دواړه لاسونه ترمړوندوپوري وينځي ځکه چې دواړه د پاکولو آله ده بيا خپله شرمګاه پريمينځه ځکه چې هغه دنجاست ځاى دى نو احتمال شته چې مرادري دي پري نښتی وي له کومې ځخه چې دنوربدن دخرابيدلوانديښنه شته اوکه دبدن په نوروحصوباندي مرداري لګيدلي وي نوهغه هم لري کړه ترڅود اوبو په توبولوسره مرداري خپره نشي.

(۳۷) بيا اودس وکړه لکه څرنګه چې دلمانځه لپاره اودس کوي مګرکه په داسي ځاي کې غسل کوي چيرته چې دغسل اوبه جمع کيږي نوپه اوداسه کې پښي مه پريمينځه بلکه له غسل کولو ځخه وروسته پښي پريمنځه ځکه چې په داسي صورت کې په اوداسه کې دپښو پريمنځلو څه ګټه نشته.

(۳۸) بيا په خپل سراوټول بدن باندي اوبه توی کړه بياکه دي په اوداسه کې پښي نه وي پريمنځلي نوله دغه ځاى ځخه لري شه او پښي پريمنځه ﴿ هكذا حكت ميمونة ﷺ روى الجماعة عنها قالت وضعت للنبي ﷺ ماء يغتسل به فافرغ على يديه فغسلهما مرتين او ثلاثا ثم افرغ بيمينه على شماله فغسل مذاكيره ثم دلك يده بالارض ثم تمضمض واستنشق ثم غسل وجهه ويديه ثم غسل راسه ثلاثا ثم افرغ على جسده ثم تنحى عن مقامه فغسل قدميه ﴾

ف: په ټول بدن داوبوتويول بايدله کوم اندام ځخه شروع کړاى شي ؟په دي کې دوه قوله دي نمبر۱. له ښى اوږي ځخه دي پيل کړي بيادي په چپه اوږه اوبه توی کړي بيادي پرسراوبه توی کړي /نمبر۲. اول دي پرسراوبه توی کړي بياپرراسته اوږه بياپرچپه اوږه همدا ظاهرالرواية اوصحيح قول دى لمافى شرح التنوير: (ثم يفيض الماء بادئا بمنكبه الايمن ثم الايسر ثم براسه ثم) على (بقية بدنه مع دلكه) ثلاثا وقيل يثنى بالراس وقيل يبدا بالراس وهو الاصح وظاهر الرواية (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۱/۱۱۷)

(۳۹) که دښځي دسردويښتانو بيخونه اوبه ورسيږي نوپردي باندي دخپلوضفائرو (کوڅيو) خلاصول واجب نه دي ځکه چې حضرت ام سلمة ﷺ فرمايي چې ماعرض وکړچې يارسول الله زه داسي ښځه يم چې دخپل سرويښتان چوټي کوم نوايا په غسل جنابت کې يې خلاصي کړم نونبی کريم ﷺ وفرمايل چې يابلکه ستالپاره داکافی ده چې په خپل سردري لپي اوبه توی کړي بيا په خپل ځان اوبه توی کړي نوبس ته به پاکه شي، البته شرط داده چې اوبه دويښتانو بيخوته ورسيږي که نه نو دويښتانو خلاصول واجب دي.

ف: دښځي په خاصولوسره مصنف ﷫ دي خبري ته اشاره وکړه چې که سړی دسر ويښتان کوڅی کړي وو نودغسل په وخت کې دکوڅيوخلاصول واجب دي لعدم الضرورة فی حقه، همداشان که دښځي ويښتان خلاص وو نوبياصرف بيخوته داوبورسول کافی نه دي بلکه دټولو ويښتانوپريمنځل اولندول ضروري دي

ولې چې په دې صورت کې ښځې ته ويښتانو ته په اوبو رسولو کې څه تکليف نشته، لمافي شرح التنوير (وكفى بل اصل ضفيرتها) اي شعر المرأة المضفور للحرج اما المنقوض فيفرض غسل كله اتفاقا (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۱/۱۱۳)

د غسل د موجباتو بيان

(۴۰) وفرض عند مني ذي دفق وشهوة عند انفصاله (۴۱) وتواري حشفة في قبل أو دبر عليهما (۴۳) وحيض (۴۴) ونفاس (۴۵) لا مذي (۴۶) وودي (۴۷) واحتلام بلا بلل

ترجمه: او غسل فرض دی د داسې منيو د وتلو په وخت کې چې توپ وهونکې وي او شهوت لرونکې وي له خپل ځای څخه د جلاوالي په وخت کې. او د مخصوص اندام د سر د پټېدلو په وخت کې په قبل یا دبر کې پردواړو باندې. او له حيض. او نفاس څخه (غسل فرض دی) نه د مذي، او ودي له وتلو څخه. او له احتلام څخه بغير له لوند والي.

تشريح: دلته مصنف رحمه الله موجبات غسل (د غسل لازمونکې اسباب) بيانوي له موجب څخه مراد هغه شی دی د کوم له امله چې غسل فرض ګرځي.

(۴۰) د غسل لازمونکې سببونه ډېر دي. اول سبب يې په شهوت سره په توپ د منيو له خپل مقر (ځای) څخه جلا کېدل دي خواه که د سړي وي او که د ښځې وي که د خوب په حالت کې وي او که د ويښې په حالت کې وي ولې چې د الله تعالى ارشاد دی ﴿وَإِنْ كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ د استدلال وجه داده چې په ايت شريف کې د تطهير حکم جنبي ته شامل دی او په لغت کې جنابت په شهوت سره د مني وتلو ته ويل کيږي. لهذا په شهوت سره د مني وتل جنابت دی نو غسل به هم په شهوت سره د مني په وتلو واجبيږي.

ف: د امام شافعي رحمه الله په نزد د مني وتل مطلقا غسل واجبوي خواه که شهوت وي او که نه وي. د ده دليل د نبي کريم ﷺ دا ارشاد دی چې الماء من الماء (اوبه له اوبو څخه لازميږي) يعنې غسل له منى څخه واجبيږي دا حديث مطلق دی په دې کې د شهوت قيد نشته لهذا د مني وتل مطلقا غسل واجبوي. امام شافعي رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې ستاسو مستدل الماء من الماء پر خپل عموم پاتې نه دی که نه مذي او ودي او بولې به هم په دې کې داخلې شي او حال دا چې له دوئ څخه د غسل په واجبيدلو هيڅوک قائل نه دی بلکه خاص او به يعنې په شهوت سره د مني وتل مراد دي

ف: بيا له احنافو څخه د طرفينو (امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله) په نزد له عضو تناسل څخه د منيو د وتلو په وخت کې شهوت شرط نه دی د امام ابويوسف رحمه الله په نزد په دې وخت کې هم شهوت شرط دی. لهذا که چا احتلام وشو او مني له خپل ځای څخه په شهوت سره جلا شول مګر ده خپل عضو تناسل ټينګ کړ کله چې شهوت ختم شو نو مني بې له شهوته ووتل نو په دې صورت کې د طرفينو په نزد غسل واجب دی او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد غسل واجب نه دی د طرفينو قول راجح دی مګر د سفر وغيره په شان د ضرورت په ځايونو کې د امام ابويوسف رحمه الله په قول د عمل کولو ګنجائش شته لمافي الشامية (قوله قلت) ظاهره الميل الى اختيار مافي النوازل ولكن اكثر الكتب على خلافه حتى البحر والنهر ولا سيما قد ذكروا ان قوله قياس وقولهما استحسان وانه الاحوط فينبغي الافتاء بقوله في مواضع الضرورة فقط تأمل (رد المحتار: ۱/۱۰۹)

ف، اوکه کوم شخص دخپل عضو تناسل په نیولو قدرت پیدانه کړ تردې چې مني ووتل نو باتفاق ائمه داشخص جنب شواوس نو که له تهمته ویریده نو دلمونځ کونکي شبه دې اختیار کړي مثلاً لاس دې پورته کړي اودلمونځ کونکو په څیر دې رکوع اوسجده وکړي بې له نیت کولو اوبې له تکبیر تحریمه اوقرأت څخه .لمافي الشامية :اذا لم يقدارک مسک ذکره حتى نزل المني صار جنبا بالاتفاق فاذا خشي الريبة يستتر بايهام انه يصلي بغير قرأة ونية وتحريمة فيرفع يديه ويقوم ويركع سه المصلي (ردالمحتار: ۱/۱۱۹)

(۴۱)قوله وتواری حشفة ای وفرض الغسل ایضا عندتواری حشفة .په ستنولو کې چې دعضو تناسل دپوستکي کومه برخه پرې کیږي له هغه څخه پورتنۍ حصې ته حشفه ویل کیږي کوم ته چې په اردو کې سپاړی ویل کیږي .له موجبات غسل څخه دسري دحشفې په قبل کې پټیدل دي صرف نښلول غسل نه واجبوي بلکه دحشفې پټیدل غسل واجبوي خواه که انزال وي اوکه نه وي ولې چې په کوم شي چې حکم مرتب وي هغه که پخپله خفی وي مګر دهغه یوښکاره سبب وي نودا ښکاره سبب دهغه خفي امر پرځای دریږي اوحکم په دغه سبب مرتب کېږي نودلته دحشفې پټیدل دانزال سبب دی اوخپله انزل له سترګو څخه پټ دی کله دمني دکمښت له کبله محسوس نه شي لاهم نه چې انزال وشو اوکه نه وشو په دې وجه دحشفې پټیدل دانزال پرځای دریږي اود غسل ترتب دحشفې پرپټیدلو دی .همداشان دسري دحشفې پټیدل په دبر کې په فاعل اومفعول دواړو غسل واجبوي ولې چې په دې صورت کې هم دمني وتل غالب دي اوپه مفعول باندې احتیاطاً غسل واجب دی لمافي الهندية :الايلاج في احد السبيلين اذاتوارت الحشفة يوجب الغسل على الفاعل والمفعول به انزل اولم ينزل (هندية: ۱/۱۰)

(۴۲)قوله وحیض ونفاس ای وفرض الغسل ایضا عندانقطاع حیض وانقطاع نفاس .دغسل دواجبولو دریم سبب حیض دی په دشرط چې ختم شي لقوله تعالى ﴿ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ ﴾ (یعنی حائضو ښځوته مه ورنږدې کیږئ ترڅوچې دوئ پاکي شي نو کله چې دوئ ښې پاکي شي نو په هغه ځای کې جماع کوئ په کوم ځای کې چې الله امر کړی دی)اوښه پاکوالی هغه وخت کیږي کله چې دویني له بندیدو وروسته غسل وکړي

(۴۳)دغسل دواجبولو څلورم سبب نفاس دی په دشرط چې ختم شي اودنفاس غسل لره واجبول په اجماع ثابت دی.

(۴۴)قوله ولامذی وودی ای لایفرض عندخروج مذی وودی .مذی(نرمې سپینې اوبه دي کومې چې له ښځې سره دبازۍ کولو په وخت کې دسړي له ذکر څخه وځي)

(۴۵)وودی(زیړې خنډې اوبه دي کومې چې کله له بولو څخه مخکې اوکله له بولو څخه وروسته راوځي) دوتلو په صورت کې غسل نه واجبیږي البتہ اودس واجبیږي لقوله ﷺ ﴿کل فحل یمذی وفیه الوضوء﴾ (چې دهر نر څخه مذی وځي اوپه هغوئ کې اودس دی) ،اوودي په بولو قیاس دي.

(۴۵)قوله واحتلام بلابلل ای لایجب الغسل بالاحتلام بلابلل .یعني دمذی اوودی په شان احتلام بې له لوندوالي هم غسل نه واجبوي مثلاً چا په خوب کې خپل ځان په جماع کولو اولیدو بیا له پاڅیدو وروسته په جامه یا بدن باندې لوندوالی ونه لیدو نو په دې شخص غسل فرض نه دی که ښځه وي اوکه نر وي ،لحدیث ام سلمة رضي الله عنها قالت جاءت ام سلیم رضي الله عنها امرأة ابي طلحة رضي الله عنه الى النبي ﷺ فقالت يا رسول الله ان الله لا يستحيي من الحق فهل على المرأة من غسل

اذاهي احتلمت قال نعم اذارات الماء. (حضرت ام سلیم ﷺ نبی کریم ﷺ ته راغله او ویې ویل یارسول الله ﷺ الله ﷻ په حق نه شرمیږي نو ایاپه ښځه غسل شته کله چې ددې احتلام وشي نبی کریم ﷺ وفرمایل هوپه داسې حال کې چې اوبه وویني).

داحتلام بلابلل څوارلس صورتونه

ف: احنافوددې مسئلې څوارلس صورتونه ذکرکړي دي (۱)تیقن منی (۲)تیقن مذی(۳)تیقن ودی. دادرې صورتونه دیقین دي او څلورصورتونه دشک اوعدم یقین دي (۱)په اولنیودوویعنی منی اوودي کې شک وي (۲)په اخیرنیودوو یعنی مذی اوودي کې شک وي (۳)په اول اودریم یعنی منی اوودي کې شک وي (۴)په دریوسرو کې شک وي چې کیدای شي منی دوي کیدای شي مذی دي وي او کیدای شي ودي دي وي دااوه صورتونه شول په دوئ کې دهریوه دوه دوه صورتونه دي تذکراحتلام یعنی چې دده احتلام په یادوي اوعدم تذکراحتلام یعنی چې دده احتلام په یادنه وي لهذاټول څوارلس صورتونه شول .اوس ددوئ حکم واوره ، دتذکراحتلام په اووصورتونوکې له یوه ماسواپه نوروټولو صورتونوکې غسل واجب دی اوهغه یوصورت دتیقن ودی په دي کې امام صاحب اوصاحبین متفق دي ،اودعدم تذکراحتلام په صورتونوکې داتفصیل دی چې په یوه صورت یعنی دتیقن منی په صورت کې بالاتفاق غسل واجب دی اودتیقن غیرمنی په صورتونوکې بالاتفاق غسل واجب نه دی اوهغه درې صورتونه دي (۱)تیقن مذی (۲)تیقن ودی(۳)شک بین المذی والودی ،اوپه احتمال منی(دکوم چې درې صورتونه دي)دطرفینوپه نزدغسل واجب دی اودامام ابویوسف رحمه الله په نزدغسل واجب نه دی اوهغه درې صورتونه داتادي (۱)شک بین الاولین(۲)شک بین الاول والثالث (۳)شک فی الثلاث. حاصل داچې دعدم تذکراحتلام په ۷صورتونوکې دامام ابویوسف رحمه الله په نزدصرف په یوصورت یعنی تیقن منی کې غسل واجب دی په پاتي شپږوصورتونوکې غسل واجب نه دی او دطرفینوپه نزددتیقن منی په صورت اواحتمال منی په دریوصورتونوکې غسل واجب دی.

دغسل مسنون بیان

(۴۷)وَسُنَّ لِلْجُمُعَةِ(۴۸)وَالْعِيدَيْنِ(۴۹)وَالْإِحْرَامِ(۵۰)وَعَرَفَةَ

ترجمة: اوغسل سنت دی دجمعي لپاره ،اودوخترونولپاره ،اودواحرام لپاره ،اوپرعرفات ددریدلولپاره.

تشریح: له دي ځای څخه مصنف رحمه الله دغسل مسنون بیان کوي نویې وفرمایل (۴۷)چې داحنافوپه نزددجمعي لپاره غسل کول مسنون دی لقوله ﷺ ﴿من توضأللجمعة فبها ونعمت ومن اغتسل فذلک أفضل﴾(یعنی چاچې دجمعي په ورځ اودس وکړنوفبها اوچاچې غسل وکړنودا افضل دی)اوهمدارنګه دحضرت ابن عباس رضي الله عنه له یوه اوږده حدیث څخه هم دجمعي دغسل مسنون والی ثابتیږي کوم چې حضرت عکرمه نقل کوي چې دعراق له خلکو څخه څه خلک راغلل اوپوښتنه یې وکړه چې ای ابن عباس ایاستاپه رأیه دجمعي په ورځ

غسل كول واجب دي ؟ابن عباس ﷺ ورېل يابلكه غسل دزياتي پاكۍ باعث دی اودغسل كونكي لپاره ښه دی اوكه چاغسل ونه كړنوپه هغه واجب نه دی.

ف:دجمعي غسل دامام ابويوسف رحمه الله په نزددجمعي دلمانځه لپاره سنت دی يعنی غسل كونكی كه په همدي غسل سره دجمعي لمونځ اداء كړي نوده ته به دسنت غسل ثواب وركول كيږي كه نه نو نه وركول كيږي ،اودحسن ابن زياد رحمه الله په نزددجمعي دورځي لپاره سنت دی ،دامام ابويوسف صاحب رحمه الله قول صحيح دی لمافي الهندية:وغسل يوم الجمعة للصلوة وهو الصحيح كذافي الهداية(هندية:٦ ١/١)

ف:دجمعي ،اخترونو،احرام اووقوف عرفات لپاره غسل سنت غيرمؤكددی يعنی پرينبودنكی يې دملامتيامستحق نه كرځي لمافي حاشية الشيخ عبدالحكيم الشارلكوتي الشهيد:واعلم ان هذاالغسل من السنن الغير المؤكدة فلايعاب بتركه كمافي القهستاني وذهب بعض المشائخ الي ان هذه الاغتسالات الاربعة مستحبة الخ(ماخوذازدرالمحتار:٥ ١٢/١)

(٤٨)قوله والعيدين اي وسن الغسل للعيدين ،يعنی داخترونوپه ورځ غسل كول سنت دي ﴿لحديث فاكهة بن سعدان رسول الله ﷺ كان يَغْتَسِلُ يوم عَرَفَةَ وَيَوْمَ النَّحْرِ وَيَوْمَ الْفِطْرِ﴾ (يعنی نبی كريم ﷺ دكوچني اخترپه ورځ اودلوی اخترپه ورځ اودعرفي په ورځ غسل كاوه) نيزپه دي ورځوهم دجمعي په څيرډيروخلكواجتماع وي نوپه دي وجه په دي ورځوكې هم غسل مسنون دي.

(٤٩)قوله والاحرام اي وسن الغسل للاحرام ،يعنی داحرام لپاره هم غسل سنت دی خواه كه دحج احرام وي اوكه دعمري احرام وي لحديث خارجة بن زيدبن ثابت ﷺ انه راى النبي ﷺ تجردلاهلاله(احرامه) واغْتَسَلَ (چې نبی كريم ﷺ جلاشو اوداحرام لپاره يې غسل وكړ).

(٥٠)دعرفات لپاره غسل كول سنت دی لماروينامن حديث فاكهة بن سعد ﷺ ،دعرفات غسل خاص په عرفات ددريدلولپاره دی دعرفات ددخول ياعرفات دورځي لپاره نه دی.

دواجب غسل بيان

(٥١)وَوَجَبَ لِلْمَيِّتِ(٥٢)وَلِمَنْ أَسْلَمَ جُنُبًا(٥٣)وَإِلَّا نُدِبَ

ترجمه:اوغسل واجب دی دمړي لپاره ،اودهغه چالپاره چې اسلام قبول كړي په حال دجنابت كې ،كنه مستحب دی.

تشريح:(٥١)په كوموشيانوچې غسل واجبيږي هغه دوه دي. فمنها مرګ، يعنی چې كوم مسلمان مرشي نومړي ته غسل وركول په ژونديو مسلمانانوواجب كفائي ده دمړي غسل په اجماع سره ثابت دی دنبی كريم ﷺ ارشاددی چې ديوه مسلمان پربل مسلمان شپږحقونه دي له هغو څخه يوداد ی چې ،الامات ان يحضره (يعنی كله چې يومسلمان مرشي نوهغه بل دي ده ته حاضرشي)په دي وخت كې له حاضريدوڅخه مراددادی چې دده دغسل اوتجهيزاوتكفين لپاره حاضرشي.

ف:البته كه مړی نرښځی وو نودځينو حضراتورأيه داده چې هغه ته دي تيمم وروهل شي اودځينورأيه داده چې په خپلوجاموكې دي غسل وركړای شي والاول هوالاولي،لمافي شرح التنوير(ويجب)اي بفرض (على الاحياء) المسلمين

(كفاية)اجماعا(ان يغسلوا)بالتعليف(الميت)المسلم الالخنثى المشكل فيمم,وقال ابن عابدين:وقيل يغسل بثيابه والاول اولى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار:۱/۱۲۳)

(۵۲)نمبر ۲.دكافراسلام قبلول هم غسل واجبوي په دي شرط چې له مسلمانيدلو څخه مخكي دى جنب وي لقوله ﷺ ﴿من جاء يريد الاسلام ان كان جنبا فليغتسل والافلا﴾(يعنى كوم كافرچې اسلام راوړل غواړي نو كه هغه جنب وي نو غسل دي وكړي او كه نه نو نه دي كوي)نيزدوجوب غسل يوله وجه دا هم ده چې اوس څرنګه چې دى دلمانځه داداءكولو اراده كوي اوددي ارادي په وخت كې هغه جنب او مسلمان دى او پرجنب مسلمان غسل واجب دى.

(۵۳)قوله والاای وان لم يكن الكافر الذى اسلم جنبا فالندب,يعنى كه چيرته كافرپه دي حال كې مسلمان شوچې جنب نه وو نو بيا پرده غسل كول واجب نه دي بلكه مستحب دي ولې چې نبى كريم ﷺ هراسلام راوړونكي ته دغسل حكم نه دكړى.

داوبو داحكامو تفصيل

(۵۴)وَيَتَوَضَّأُ بِمَاءِ السَّمَاءِ وَالْعَيْنِ وَالْبَحْرِ (۵۵)وان غير طاهر احداو صافه او انتن بالمكث (۵۶)لَا بِمَاءٍ تَغَيَّرَ بِكَثْرَةِ الْأَوْرَاقِ اَو بِالطَّبْخِ او اعْتُصِرَ من شَجَرٍ او ثَمَرٍ ولا بِمَاءٍ اوغَلَبَ عليه غَيْرُهُ اَجْزَاءً

ترجمه:او اودس كولى شي دباران او چيني او درياب په اوبو سره،كه څه هم كوم پاک شى داوبو يو صفت وربدل كې يا بدبويه شي او به دزياتو دريدلو له امله،نه په داسي اوبو سره چې دپاڼو د ډيرښت له امله متغيري شوي وي يا په پخيدلو سره يا نبتيځل شوي وي له درختي يا له ميوي څخه او نه په داسي اوبو سره چې پري غالب شوي وي بل شى دا جزاو په اعتبار سره.

تشريح: كله چې مصنف رحمه الله دطهارتينو يعنى اوداسه او غسل له بيان څخه فارغ شونو يې دآله طهارت يعنى اوبو په بيان شروع وكړه.

الحكمة: انه وان كان معلوما بالبداهة ان الماء مذيل للاقذار والاوساخ وكل ماينافى النظافة فان للشارع الحكيم فى تكليفنا ازالة النجاسة بالماء حكمة بالغة لان الماء يزيل عين النجاسة وأثرها وهو الرائحة الكريهة التى تؤذى الانسان وكل مايقرب من الجسم الذى تنبعث منه الرائحة,وايضا ان نفس هذه الرائحة عندما تختلط بالهواء وتدخل فى سائر البدن بواسطة المسام تضر بالجسم وتخل بالصحة لان الهواء سيال مركب لطيف قابل للتمدد وهو يدخل بسهولة فى أصغر مسام الاجسام وكل الحيوانات معلقة به حتى المعادن تحتوى على كمية منه فضلا عن الانسان,(حكمة التشريع)

(۵۴)دباران ،چينو او سمندر داوبو په ذريعه سره له بي اودسيو(كه اصغروي كه اكبر)پاكي حاصلول جائزدي لقوله تعالى وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا﴾ (يعني موږ له اسمان څخه پاكونكي اوبه رانازلى كړي دي).

دچينو اوبه هم په حقيقت كې داسمان اوبه دي لكه چې دالله تعالى ارشاد دى﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ﴾(اياتا نه دي ليدلي چې الله تعالى له اسمان څخه اوبه نازلي كړي او بيا يې بهولي دي دغه اوبه په چينو كې دځمكي)په دي وجه په ذكرشويو اوبو پاكي حاصلول روا دي نزد مطلقو اوبو دپاک والى

يو دليل دنبي كريم ﷺ دا ارشاد دی ﴿الماء طهور الا ان يتغير ريحه او طعمه او لونه بنجاسة تحدث فيها﴾ (يعنی اوبه پاكونكې دي دوې هيڅ شی نه شي مردارولی مګر داچې دنجاست دلويدوله امله ددوئ رنګ، خوند او بوی متغير شي) او دسمندر داوبو په باره كې فرمايې هو الطهور ماله والحل ميته (يعنی دسمندر اوبه پاكې دي او مړه (يعني ماهی) يې حلال دی) په دي وجه دسمندر په اوبو هم پاكې حاصلول جائز دي.

(۵۵)قوله وان غير احد اوصافه ای ويتوضا بماء السماء وان غير طاهر احد اوصافه ،يعنی كه له اوبو سره كوم پاک شی ګډشوا وهغه داوبو له دريو صفتونو يعنی رنګ ،خوند او بوی څخه يو صفت متغير كړلكه دسيلاب اوبه له كوموسره چې خاوره او ددرختو پاڼي وغيره ګډېږي يا دزعفران (يو قسم دير خوشبولرونكې ژړ ګل دی) او يا هغه اوبه چې صابون ورسره ګډشوی وي ،نو ترڅو چې نرم والی او بهيدل پاتي وي نو په دي اوبو اودس كول جائز دي ولی چې دي ته مطلق اوبه ويل صحيح دي او په مطلق اوبو اودس جائز دی همدا راز ددغو شيانو له ګډيدلو څخه داوبو ژغورل ممكن هم نه دي ځكه په دي اوبو اودس جائزدي، همداشان كه اوبو ديرو دريدلو له امله بدبويه شوي نو هم په دي اوبو اودس جائز دی ولی چې اوس هم په دوئ باندې داوبو اطلاق صحيح دی .

ف: مګر كه دومره اندازه زعفران په اوبو كې ګډشول چې بيا په دوئ سره يو شی ته رنګ وركول كيدای شوای نو په دي اوبو سره اودس جائز نه دی لما قال شارح التنوير: وكذا يجوز بماء خالطه طاهر جامد مطلقا (كالاشنان وزعفران) لكن فی البحر عن القنية ان امكن الصبغ به لم يجز كنبيذ التمر (ردالمحتار: ۱/۱۳۷)

ف: دمصنف صاحب رحمه الله له عبارت وان غير طاهر احد اوصافه څخه دي خبري ته اشاره ده چې كه داوبو دوه يا دري صفتونه متغير شول نو په دوئ سره اودس كول جائز نه دي مګر صحيح داده چې كه دپاک شی په ګډيدو سره داوبو دري سره اوصاف متغير شول نو بيا هم په دوئ اودس كول جائز دی په دي شرط چې داوبو طبيعت يعنی رقت او سيلان پاتې وي ولی چې كوم وخت چې قيس بن عاصم رضي الله عنه ايمان قبول كړنو نبی كريم ﷺ هغه ته امرو كړ چې غسل وكړه په اوبو او بيری سره، نو كه دپاک شی په ګډيدو سره په اوبو پاكي حاصلول جائز نه وای نو نبی كريم ﷺ به ده ته په داسي اوبو داودس كولو حكم نه كاوه .قال شارح التنوير وكذا يجوز بماء خالطه طاهر جامد مطلقا (كاشنان وزعفران وفاكهة وورق شجر) وان غير كل اوصافه (الاصح ان بقيت رقته) ای واسمه لمامر وقال ابن عابدين (قوله وان غير كل اوصافه) لان المنقول عن الاساتذه انهم كانوا يتوضئون من الحياض التی تقع فيها الاوراق مع تغير كل الاوصاف من غير نكير (الدر المختار مع ردالمحتار: ۱/۱۳۷)

(۵۶)قوله لا بماء تغير بكثرة الاوراق ای لا يتوضا بماء تغير بوقوع الاوراق الكثيرة ،يعنی په داسي اوبو سره پاكې حاصلول صحيح نه دي په كوموكې چې ددرختو ديري پاڼي لويدلي وي او اوبه يې متغيري كړي وي او يا كوم بل پاک شی له اوبو سره ګډ شي او په اوبو غالب (دير) شي ترديّ چې اوبه له خپل طبيعت څخه وباسي (داوبو طبيعت نرم والی او بهيدل دی) نو په داسي اوبو سره اودس كول شرعاً معتبر نه دی لكه شربت ،سركه ،شوروا او دلوبيا اوبه ولی چې له هغو څخه يو ته هم ماء مطلق نه ويل كيږي لهذا په هغو سره پاكې حاصلول جائز نه دي همداشان كه په اوبو كې كوم شی (مثلاً ګازري، لوبيا وغيره) پاخه شي په دي شرط چې له هغه څخه مبالغه فی التنظيف مقصود نه وي نو په هغو هم سره اودس كول جائز نه دی ولی چې هغو ته مطلق

اوبه ويل صحيح نه دي،اوهمداشان په داسي اوبوسره چې له كومې درختي ياميوي څخه نښتيځل شوي وي اودس كول جائزنه دی لماقلنا،اوپه داسي اوبوسره هم پاكي حاصلول صحيح نه دي په كوموچې يوپاك شی داجزاوپه اعتبارغالب شي لماقلنا.

ف:پاك شيان چې له اوبوسره گډيږي مختلف دي ځكه نو پر اوبودهغوغالب كيدلو مطلب هم جلاجلادی (۱)كه گډ شوی شی جامدوي نوپراوبوبيې دغالب كيدلو مطلب دادی چې اوبه داوبوله طبيعت څخه وباسي (داوبوطبيعت نرموالی اوبهيدل دي)يعنی كله چې اوبه خټه شي نوگډشوی شی غالب گڼل كيږي اوپه داسي اوبوسره اودس روانه دی اوكه داوبو طبيعت په خپل حال پاتي وي نوپه دوئ اودس كول روادی (۲)كله دجامدشی په گډيدوسره داوبوطبيعت په خپل حال پاتي وي مگردي اوبوته نوی نوم وركول كيږي لكه په اوبوكې دخرماپه گډيدوسره داوبونوم نبيذتمرگرځي په داسی صورت كې كه څه هم داوبوطبيعت په خپل حال پاته دی مگرپه دوئ اودس كول جائزنه دی ولی چې اودس په مطلق اوبوسره جائزدی په داسي حال كې چې دااوبه مطلق اوبه نه گڼل كيږي (۳)اوكه گډشوی شی مائع وو نوله دوه حاله څخه به خالي نه وي ياخوبه له اوبوسره په اوصافوكې موافق وي يابه مخالف وي ،كه موافق وو لكه مستعملي اوبه،نوبياغلبه بالاجزاء معتبره ده يعنی دمستعملواوبواجزاء كه له غيرمستعملواوبوڅخه ډيروو نوگډ شوی شی غالب گڼل كيږي اوپه دی اوبو سره اودس كول صحيح نه دی اوكه مستعملي اوبه لږوي نوگډشوی شی غالب نه گڼل كيږي لهذاپه داسي اوبوسره اودس كول جائزدی ،اوكه په اوصافوكې مخالف وو نوله دوه حاله څخه به خالي نه وي يابه په دريوسره اوصافو كې مخالف وي يابه ځينوكې ،كه په دريوسروكې مخالف وو لكه سركه ،نوبيادااكثراوصافوپه ښكاره كيدو سره گډشوی شی غالب گڼل كيږي اوپه داسي اوبوسره اودس نه صحيح كيږي ،اوكه په ځينواوصافوكې مخالف وو لكه شيدي (چې په رنگ اوخوندكې له اوبوسره مغايري دي)نوبياددغه وصف په اعتبارد غلبه معتبره ده نوكه دشيدورنگ اوخوندغالب وو نوپه دوئ سره اودس كول جائزدي كنه نه جائزنه دي .(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۱/۱۳۳).

(۵۷)وبماء دائم فيه نجس (۵۸)إن لم يكن عشرا في عشر (۵۹)وإلا فهو كالجاري (۶۰)وهو ما يذهب بتبنة وتوضأ منه إن لم ير أثره وهو طعم أو لون أو ريح

ترجمه،اوپه داسي ولاړواوبوسره (اودس جائزنه دی)په كوموكې چې نجاست لويدلی وي،كه چيرته هغه نه وي لس په لسوكې ،كه دانه وي نوهغه دجاري اوبوپه شان دي ،اوهغه هغه دي چې وابنه وړي نواودس دي وكړي په هغوسره په دي شرط چې ظاهرنه وي دنجاست اثردنجاست اثرخوند ،رنگ اوبوی دی.

تشريح ،(۵۷)قوله بماء دائم اي ولا يجوز التوضأ بماء دائم الخ،يعنی كه چيرته په ولاړواوبوكې نجاست ولويږي نوپه دوئ اودس جائزنه دی خواه كه مرادي لږوي اوكه ډيره وي،اوكه داوبوصفتونه دنجاست له امله متغيرشوي وي اوكه نه وي ولی چې نبی كريم ﷺ له نجاست څخه داوبودساتلوحكم كړی دی لكه څرنگه چې دنبی كريم ﷺ ارشاددی چې په ولاړواوبوكې دي نه څوك بولي كوي اونه دي دجنابت غسل كوي ، اوهمداشان دنبی كريم ﷺ ارشاددی چې كله له تاسي څخه څوك له خوبه راپاځي نوله دري ځله پرېمنځلوبغيردي لاس په لوښي كې نه ننه باسي ولی چې ده ته څه معلوم چې دده لاس شپه چيرته تيره كړي ده

يعنى ممكنه ده چې دنجاست پرځاى لګيدلى وي ،نوكه دنجاست په لويدوسره اوبه نه مرداريدلاى نو بيادنبى كريم ﷺ دمنع كولو څه فائده شوه .

ف:دامام مالک رحمه الله په نزدترڅوچې داوبويوصفت دنجاست له كبله متغيرشوى نه وي ترهغوپوري په دويځ اودس كول جائزدى ﴿لقوله ﷺ الماء طهور لاينجسه شئ﴾(اوبه پاكې دي يوشى يې نه شي مردارولى) زموږله طرفه ددې داځواب وركړل شوى دى چې ددې حديث دمفهوم مطابق تاسي پخپله هم عمل نه كوى ولى چې دحديث مفهوم دادى چې اوبه هيڅ وخت هم نه مرداريږي په داسي حال كې چې تاسي دصفت له تغيروروسته دمرداريدلو قائل ياست ،دامام شافعي رحمه الله په نزدكه اوبه ددوو منګيانوپه اندازه ياله دې څخه زياتي وي نودنجاست په لويدلوسره نه مرداريږي ﴿لقوله ﷺ إذا كان الماء قلتين لم يحمل خبثا﴾(كله چې اوبه دومنګيانوته ورسيږي نوهغه نه مرداريږي) ،زموږله طرفه ددې حديث داځواب وركړل شوى دى چې ددې حديث دامطلب نه دى چې ددوومنګيانوپه اندازه اوبه نه مرداريږي بلكه ددې معنى داده چې لږاوبه كه څه هم ددوومنګيانوپه اندازه هم وي هغه نجاست نه شي بارولاى بلكه مرداريږي .

(58)قوله والافهو كالجارى اى وان كان عشرا فى عشر فهو كالجارى ،يعنى پورته ذكرشوى حكم په هغه وخت كې دى چې ولاړي اوبه لس په لسوكې (لس ګزه اوږدوالى لس ګزه پلنوالى)نه وي كه اوبه لس په لسوكې وي نودهغواوبوحكم دجارى اوبودى اوهغه دنجاست په لويدلوسره نه مرداريږي اوكه هغه له لس په لسو څخه لږوي نوكوچنى تالاب دى اودنجاست په لويدلوسره مرداريږي،په دې قول كې دعاموخلګولپاره اسانى ده اوهمداقول مفتى به دى ،دلس په لسوكې تول ه رقبه يعنى داوږدوالى اوپلنوالى حاصل ضرب سل ګزه يعنى دوسوه ينځوس پوټه يادميټرپه حساب ۲۰۰۹ ميټره دى.

دلس په لسوكې دحوض حكم

ف:په اصل كې دامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب مختارتفويض الى رأى مبتلى به دى اودامام محمد رحمه الله رجوع هم دې قول ته ثابته ده مګرځرنګه چې دخلګورأيي مختلفي دي بلكه ځيني خلګ داسي هم وي چې هغه بالكل رأيه نه لري نومتأخرينو علماوداساني لپاره دلس په لسوكې قول معتبركړى دى لمافى شرح التنوير (والمعتبر)فى مقدار الراكد(اكبر رأى المبتلى به فيه فان غلب على ظنه عدم خلوص)اى وصول (النجاسة الى الجانب الاخر جاز والالا) هذا ظاهر الرواية عن الامام واليه رجع محمد وهو الاصح كمافى الغاية وغيرها وحقق فى البحرانه المذهب وبه يعمل وان التقدير بعشر فى عشر لايرجع الى اصل يعتمد عليه ورد ماجاب به صدر الشريعة لكن فى النهر وانت خبير بان اعتبار العشر اضبط ولاسيمافى حق من لارأى له من العوام فلذا افتى به المتاخرون الاعلام(الدر المختار على هامش ردالمحتار: ۱/۱۴۱)

ف:دعراقيينوقول دادى چې كه ولاړي اوبه غديرعظيم وي نوهغه دنجاست په لويدلوسره نه مرداريږي، غديرعظيم(لوى تالاب) هغه دى چې دهغه ديوه طرف په ښورولوسره بل طرف نه ښوري ،بيادامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددمنځنى درجي دغسل حركت معتبر دى ولى چې په تالابونوكې دغسل ضرورت ديرپيښيږي داودا سه په نسبت ځكه چې اودسونه عموماپه كورونوكې كيږي دامام ابويوسف رحمه الله په نزددلاس حركت

معتبردى اوداامام محمد رحمه الله په نزدداودس كولوحركت معتبردى(داامام محمد رحمه الله قول راجح دى)لمافى الشامية:وهل المعتبر حركة الغسل او الوضوء او اليد روايات ثانيها اصح لانه الوسط(ردالمحتار: ١/١٣١)
دغديرعظيم حكم دادى چې كه دده په يوطرف كې نجاست ولويږي نوله بل طرف څخه يې اودس كول جائزدى ولې چې ظاهره داده چې ديوه طرف نجاست هغه بل طرف ته نه رسيږي ځكه چې په سرأيت كولوكې دحركت اثردنجاست تراثر ډيردى كله چې دحركت اثربل طرف ته نه رسيږي نودنجاست اثرپه طريقه اولى سره نه رسيږي.

ف: مفتى به قول دادى چې په كوم طرف كې نجاست لويدلى وي هغه طرف هم مرداردى لمافى فتح القدير(قوله اشارة الى انه يتنجس مكان الوقع)وعلى هذا صاحب المبسوط والبدائع وجعله شارح الكنز الاصح ومشائخ بلخ وبخارى قالوا فى غير المرئية يتوضأمن جانب الوقوع وفى المرئية لاوعن ابى يوسف انه كالجارى لايتنجس الابالتغير وهو الذى ينبغى تصحيحه فينبغى عدم الفرق بين المرئية وغيرها(فتح القدير: ١/٧٢)البته احتياط دادى چې له دې طرف څخه اودس ونه شي لمكان الاختلاف.

ف:په حوض كې ضروري نه ده چې هغه به مستطيل يامربع وي كله كله مدورهم كيداى شي بلكه نن صباخودنباتست اوديزائننگ لپاره گردې اواواوړده حوضونه جوړيږي داوږدوحوضونوحكم خودادى چې په مجموعي لحاظ سره به سل مربع لاسه وي مثلاً كه اوږدوالى شل لاسه وي نوسوربه يې خامخا پنځه لاسه وي ،اومدورحوض قطربايدڅلويښت لاسه وي لمافى الهندية :وان كان الحوض مدورا يعتبر ثمانية واربعون ذراعا كذافى الخلاصة وهو الاحوط كذافى محيط السرخسى(هنديه: ١/١٨)

الالغاز:اى حوض صغير لايتنجس بوقوع النجاسة فيه؟

فقل:حوض الحمام اذاكان الغرف منه متدار كاويكون الماء داخلأمن اعلاه.

الالغاز:اى ماء كثير لايجوز الوضوء به وان نقص جاز؟

فقل:هوماء حوض اعلاه ضيق واسفله عشرفى عشر.(الاشباه والنظائر)

الالغاز:اى غدير مساحته مائة ذراع فى مائة وهو نجس مع انه غير متغير بالنجاسة؟

فقل:وهوان يكون فى طريق الماء الذى يصل منه الى الغدير نجاسة والماء يمر عليها وهو قليل ويجتمع فى الغدير فكله نجس.(الاشباه والنظائر)

دجاري اوبوحكم

(٥٩)كه اوبه جاري وي نودنجاست په لويدلوسره نه مرداريږي لهذاپه دوئ سره اودس كول جائزدى په دې شرط چې دنجاست اثرنه په كې ښكاريږي ولې چې داوبوله بهيدوسره نجاست نه پاتې كيږي په دې وجه دمرداري له لويدوسره سره جارى اوبه پاكې دي.

(٦٠)دجارى اوبوپه تعريف كې دفقهاواختلاف دى ځينې وايي چې جاري اوبه هغه دي وچ وانبه ورلى شي اوځينې وايي هغه دي دكوموچې استعمال مكررنه وي يعنى كله چې له لښتى څخه اوبه راوخيستل شي اولاس پري پرېمنځل شي اوبيرته په لښتى كې توى شي نو دوهم ځل چې كله له لښتى څخه اوبه رااخيستل كيږي نواولنى اوبه په استعمال كې رانه شي بلكه اولنى اوبه په بهيدوسره مخته تللي وي

،او ډېرو رأيه داده چې خلک کومې اوبه جاري ګڼي هغه جاري اوبه دي وهو الاصح ،او د نجاست له اثر څخه مراد رنګ ،خوند او بوی دی ولې چې په حواسو سره دهمدې شيانو وجود معلومېږي .

ف:دجاري اوبوصحيح تعريف دادی چې خلک کومې اوبه جاري ګڼي هغه اوبه جاري دي لمافي شرح التنوير :والجاری (وهو مايعدجاريا) عرفاوقيل مايذهب بتبنة والاول اظهر والثاني اشهر وقال ابن عابدين (قوله والثاني اشهر)لوقوعه في كثير من الكتب حتى المتون وقال الصدر الشريعة وتبعه الكمال انه الحدالذي ليس في درکه حرج لکن قدعلمت ان الاول اصح والعرف الان انه متى كان الماءداخلامن جانب وخارجامن جانب آخريسمى جاريا وان الداخل وبه يظهر الحکم في برک المساجد ومغطس الحمام مع انه لايذهب بتبنة والله اعلم(الدرالمختارمع ردالمحتار:۱/۱۳۷)

ف:دتالاب دزوروالی په باره کې معتبرحددادی چې دلپې اوبوپه راخيستلوسره ځمکه ښکاره نشي لمافي الشامية: ﴿تنبيه﴾ لم يذكرمقدارالعمق اشارة الى انه لاتقدير فيه في ظاهر الرواية وهو الصحيح بدائع وصحح في الهداية ان يكون بحال لاينحسر بالاغتراف اى لاينكشف وعليه الفتوى(ردالمحتار:۱/۱۴۲).

(۲۱)وَمَوْتُ مالا دَمَ لَه فيه كالْبَقّ وَالذُّبابِ وَالزُّنبُورِ وَالْعَقْرَبِ وَالسَّمَكِ وَالضِّفْدَعِ وَالسَّرَطانِ لاَيُنَجِّسُه

ترجمه:اومړه کيدل په اوبو کې دداسې حيوان چې په هغه کې بهيدونکې وينه نه وي لکه غوماشې ،مچ ، مچمچې ،لړم ، ماهی ،چونګښه او کونې کبرنه مرداروي اوبه .

تشريح:(۲۱)قوله وموت مالادم ،دمبتداء والی له امله مرفوع دی او لاينجسه يې خبردی ،يعنی که په لږواوبوکې داسې حيوان مړشوپه کوم کې چې بهيدونکې وينه نه وه نو دده په مرګ سره اوبه نه مرداريږي مثلاغوماشې ،مچ،مچمچې اولړم وغيره ولې چې سلمان فارسی ﷺ فرمايي﴿ان النبى ﷺ سئل عن اناء فيه طعام اوشراب يموت فيه ماليس له دم سائل قال ﷺ فَهُوَ حَلالٌ اَكْلُهُ وَشُرْبُهُ وَالْوُضُوءُ مِنْهُ﴾(يعنی له نبی کريم ﷺ څخه دهغه لوښي په باره کې پوښتنه وشوه په کوم کې چې دخوراک څښاک شی وي چې په ده کې هغه حيوان مړشي په کوم کې چې بهيدونکې وينه نه وي نبی کريم ﷺ وفرمايل دهغه خوړل څښل حلال دي اوله هغه څخه اودس کول جائزدي)نيزداوبومردارونکی په اصل کې بهيدونکې وينه ده کومه چې دمرګ په وخت کې دحيوان په اجزاوکې ګډيږي اودحيوان اجزاء له اوبو سره متصل وي په دې وجه اوبه مرداريږي همدا وجه ده چې ذبح شوی حيوان پاک دی ولې چې په ده کې بهيدونکې وينه نشته نوځرنګه چې پورته ذکرشوي حيوانانو کې هم بهيدونکې وينه نشته په دې وجه ددوئ په اوبه کې مړه کيدل اوبه نه مرداروي .

هم داحکم دماهی ،دريابی چنګښې اوکونيکبروغيره داوبودحيوانانوهم دی ولې چې نجس په اصل کې بهيدونکې وينه ده اوداوبوپه حيوانانوکې بهيدونکې وينه نشته ولې چې وينه لرونکی حيوان په اوبوکې نه اوسي په دې وجه چې داوبو اووينې په طبيعت کې تضاددی داوبوطبيعت يخ رطب دی اودوينې طبيعت ګرم رطب دی ،دماهي ماسواپه دانورشيانوکې دامام شافعی رحمه الله اختلاف دی هغه فرمايي چې کوم شی حرام وي اودهغه حرمت دکرامت له کبله نه وي نه داهغه دنجس والی نښه ده .

دمستعملواوبوحکم

(۲۲)وَالْماءُ الْمُسْتَعْمَلُ لِقُرْبَةٍ اَوْرَفْعِ حَدَثٍ (۲۳)اِذَااسْتَقَرَّ فِي مَكانٍ طاهِرٌ لاَمُطَهِّرٌ

ترجمه :او كومې اوبه چې استعمال كړل شوي وي دثواب لپاره يادبې اودسه لري كولو لپاره ،كله چې هغه ودريږي په يوځاى كې نو هغه پاكې دي (بل شى لره)پاكونكې نه دي.

تشريح:(٦٢)دشيخينو په نزد ماء مستعمل هغه دي كومې چې دبې اودسې دلري كولو يادثواب اوقربت په نيت استعمال شوي وي ،دامام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد ما مستعمل صرف هغه دي چې دثواب په نيت استعمال شوي وي دامام محمد رَحِمَهُ اللهُ دليل دادى چې اوبه په دي وجه مستعملې كرځي چې دګناهونو نجاست له بدن څخه اوبوته نقل كيږي اودګناهونو نجاست له بدن څخه صرف په دثواب په نيت لري كيږي لهذا صرف دثواب په نيت سره استعمال شوي اوبه مستعملې اوبه دي. دشيخينو دليل دادى چې دفرضوساقطيدل يعنى بې اودسې لري كول هم موثر دي لهذا داوبو فساد دواړو شيانو (دبې اودسې دلري كولو لپاره يادثواب په نيت استعمال)له امله ثابتيږي .

ف:دشيخينو رحمهما الله تعالى قول راجح دى لمافى تبيين الحقائق:واماسببه فاقامة القربة اوازالة الحدث به عندابى حنيفة وابى يوسف رحمهما الله وعندمحمد رَحِمَهُ اللهُ اقامة القربة لاغير وعندزفر رَحِمَهُ اللهُ ازالة الحدث لاغير والاول اى قول الشيخين اصح (تبيين الحقائق :١/٣٣)

(٦٣)قوله اذااستقرفى مكان اى الماء يصيرمستعملاًاذااستقرفى مكان،اوبه څه وخت مستعملې كرځي؟امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ فرمايې چې كله له اندام څخه جلاشي نو مستعملې كرځي ولى چې له جلاكيدلو څخه مخته دضرورت له امله دغو اوبوته مستعملې نشي ويل كيداى اوله جلاكيدلو څخه وروسته هيڅ ضرورت نشته،صاحبين فرمايې چې كله اوبه له اندام څخه جلاشي اويوځاى ودريږي نو بيا دوئ ته مستعملې ويل كيږي مصنف رَحِمَهُ اللهُ دضرورت له كبله همدا قول اختيار كړى دى .

ف:مګر صحيح اومفتى به قول دادى چې كله اوبه له اندام څخه جلاشي نو نو مستعملې كرځي لمافى الهندية :فالصحيح انه كمازال العضو صار مستعملاً(هندية:١/٢٢)

دمستعملو اوبو په حكم كې اختلاف دى دشيخينو رحمهما الله تعالى په نزد مستعملې اوبه مردارې دي دحسن بن زياد په روايت له امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ څخه نجس په نجاست غليظه سره دي اوامام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ روايت كړى چې نجسې په نجاست خفيفه سره دي ولى چې په دي اوبو سره نجاست حكميه لري كړل شوى دى نو دااوبه په هغه اوبو قياسيږي چې په هغوئ سره نجاست حقيقيه لري كړل شوى وي ،دامام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد مستعملې اوبه دسركې په شان پاكې دي پاكونكې نه دي (يعنى بل شى نه پرې پاكيږي)ولې چې پاك شى اتصال له پاك شى سره نجاست نه لازموي البته له دوئ څخه دثواب دحاصليدلو له امله ددوئ دطهوريت وصف متغير شو .

ف:مصنف رَحِمَهُ اللهُ همدا قول اختيار كړى دى چې مستعملې اوبه پاكې دي پاكونكې نه دي اوهمدا ظاهر الروايت دى وعليه الفتوى :لمافى الشامية:(قوله وهوطاهر)رواه محمدعن الامام وهذه الرواية هى المشهورة عنه واختارها المحققون قالوا عليها الفتوى لافرق فى ذالك بين الجنب والمحدث واستثنى الجنب فى التجنيس الاان الاطلاق اولى (ردالمحتار:١/١٣٧)

دنابالغ كوچنى په ابو كې لاس وهل

ف:كه كوچنې هلك په لوښي كې لاس وواهه نو كه دامعلومه وه چې دده لاس پاک دى نو په دې اوبوسره اودس كول جائزدى اوكه دامعلومه وه چې دده لاس نجس وو نو په دې اوبوسره اودس كول جائزنه دى اوكه په طهارت كې شک وو نو احتياطا بايد په هغواوبوسره اودس ونه شي مگركه چاپه هغواوبوسره اودس وكړنو جائزدى ولى چې په شک سره اوبه نه مرداريږي ليكن مستحبه داده چې په پاكواوبوسره اودس وكړي ولى چې په مذكوره اوبو كې دنجاست احتمال شته،لمافى المنية:ولوادخل الصبى يده فى الاناء ان علم انه طاهرة بان كان معه من يراقبه جاز الوضوء بذالک الماء وان علم ان فيها النجاسة لم يجزوان حصل الشک لايتوضأبه استحسانااى لاجل التنزه والاحتياط ولوتوضأبه جاز لانه لاينجس بالشک لكن المستحب التوضوء بغيره للاحتمال كمافى سور الجلالة(منية المصلى:ص ١٠١).

مسئلة البير جحط

(٦٣)وَمَسْاَلَةُ الْبِئرِ جحط

ترجمه:اودكوهي مسئله دجحط په حروفوسره منضبطه شوې ده.

تشريح:(٦٤)كه كوم شخص دجنابت په حال كې له كوهي څخه دسولاغي دراكښلولپاره په داسې حال كې وركښته شوچې دهغه پربدن باندې مرداري نه وه اوكوهى كوچنى وي عشرافى عشرنه وي نوسوال دادى چې دداسې شخص په كوهي دكښته كيدوله امله كوهى مرداريږي اوكه به په خپل حال پاک پاته كيږي ؟اوداشخص به پاكيږي اوكه به پخپل جنابت پاتي وي ؟نوپه دې مسئله كې درې مذهبه دې يعنى ج،ح،ط،دكوموچې تفصيل په دې ډول دى چې ج دنجس والى نښه ده اوح دپخپل حال دپاته كيدلونښه ده اوط دطهارت علامه ده ،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزداوبه اوانسان دواړه نجس دي ولې چې دانسان هغه حصه چې اول له اوبوسره ولگيده له هغې حصې څخه جنابت لرې شواواوبه مستعملې شوې اودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدمستعملې اوبه مرداري دي لهذااوبه مرداري شوې اوځرنگه چې ددې شخص پرنوربدن همدامرداري اوبه لگيدلي دي په كوموچې جنابت نه لرې كيږي لهذاداشخص هم نجس پاتي شو.

ف:له امام صاحب رحمه الله څخه يوروايت دادى چې انسان پاكيږي ولى چې اوبه چې دانسان له بدن څخه جلاشوي نه وي ترهغونه مرداريږي همدا قول مختاراوصحيح دى لمافى الشامية:وعن ابى حنيفة ان الرجل طاهر لان الماء لايعطى له حكم الاستعمال قبل الانفصال من العضوقال الزيلعى والهندى وغيرهماتبعالصاحب الهداية وهذه الرواية اوفق الروايات اى للقياس وفى فتح القدير وشرح المجمع انهاالرواية المصححة قال فى البحرفعلم ان المذهب المختارفى هذه المسئلة ان الرجل طاهروالماء طاهرغير طهور(ردالمحتار:١٣٨/١)

دامام ابويوسف رحمه الله په نزدكوهى پخپل حال پاک دى اوانسان پخپل حال ناپاک دى ولى چې دده په نزددجنابت دلرې كولولپاره داوبوپربدن باندې قصداًبهول شرط دي كوم چې دلته نه راغى لهذاداشخص بدستورجنب دى اوپه اوبوسره ځرنگه چې نه بې اودسې لرې شوې ده اوثواب حاصل شوى دى ولى چې دثواب قصدنشته لهذااوبه پخپل حال پاكې پاتې شوې ،دامام محمد رحمه الله په نزدانسان هم پاک شواواوبه هم پاكې دي ولى چې دده په نزددجنابت دلرې كولولپاره پربدن اوبه بهول شرط نه دي لهذادده پربدن داوبه

خپله تویدنه دجنابت دلري کیدولپاره کافی ده اواوبه په دي وجه پاکي دي چې دامام محمد رحمه الله په نزدداوبو دمستعملو کیدولپاره دثواب نیت شرط دی کوم چې دلته نشته لهذااوبه هم پاکي دي.

ف:دلفظ جحط حروف دائمه ثلاثه په خارجی ترتیب هم دال دي ولې چې امام ابوحنیفه رحمه الله په خارج کې مقدم دی اودجحط په اولنی حرف یعنی ج سره دامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب ته اشاره ده ،امام ابویوسف رحمه الله په دوهم نمبرده اودجحط په دوهم حرف یعنی ح سره دده مذهب ته اشاره ده اوامام محمد رحمه الله په دریم نمبردی اودجحط په دریم حرف یعنی ط سره دده مذهب ته اشاره ده.

دپوستکی ددباغت بیان

(٦٥)وَكُلُّ إِهَابٍ دُبِغَ فَقَدْ طَهُرَ (٦٦)إِلَّا جِلْدَ الْخِنْزِيرِ وَالْآدَمِيِّ (٦٧)وَشَعْرُ الْإِنْسَانِ وَالْمَيْتَةِ وَعَظْمُهُمَا طَاهِرَانِ

ترجمه:اوکوم پوستکی چې پوخ کړای شي نو هغه پاکیږي ،ماسوادخنزیراوانسان له پوستکی څخه ، اوذانسان اومردارحیوان ویښتان اوددوئ دواړه هډوکي پاک دي

تشریح:دپوستکی له دباغت(پخولو)سره دري مسئلې تعلق لري . **نمبر ۱** . خپله دپوستکی پاکوالی . **نمبر ۲**. دهغه اغوستل اولمونځ په کې کول. **نمبر ۳**.له هغه څخه ژی جوړول اوله هغه څخه اودس کول . داولنی مسئلې تعلق له کتاب الصید سره دی اوددوهمې مسئلې تعلق له کتاب الصلوة سره دی اوددریمې مسئلې تعلق له همدې باب سره دی په دې وجه یې دباغت اهاب دلته ذکرکړی دی .

ف : اهاب هغه پوستکی یا(څرمن)ته ویل کیږي چې تراوسه پوخ شوی نه وي جمع یې اُهُب(بضمتین) راځي اوکوم پوستکی چې پوخ شي هغه ته ادیم ،صرم اوجراب ویل کیږي جمع یې اَدَم (بفتحتین)راځي.

(٦٥)نوهرهغه پوستکی چې ددباغت قابل وي له دباغت څخه وروسته پاکیږي اوهغه پوستکی چې ددباغت قابل نه وي نه پاکیږي لکه دمارپوستکی اودموږک پوستکی ،اوددباغت حکم دمردارشوی حیوان په باره کې دی که نه نو ذبح شوی حیوان پوستکی بې له دباغته هم پاک دی .

ف:دپوستکی ددباغت معنی داده چې دپوستکی بوی اوغوړوالی په دواء یاخاوره اویالمرسره لرې کړای شي په اولنی صورت کې بیاکله هم نجاست عودنه کوي یعنی که په دوائي لګولوسره چاپوستکی وچ کړبیاپه اوبولوند شونو نجاست عودنه کوي یعنی پوستکی نه مرداریږي ،په دوهم اودریم صورت کې له امام ابوحنیفه رحمه الله څخه دوه راویته منقول دي یوروایت دعودکولواودوهم روایت دنه عودکولو ،اصح دوهم روایت دی یعنی نجاست بیرته نه راګرځي لمافي الشامیه :لواصابه الماء بعدالدباغ الحقیقی لایعودنجسا باتفاق الروایات وبعدالحکمی فیه روایتان والاصح عدم العود(ردالمحتار:۱۴۹/۱)

ف:دپوستکی پخونکی که مسلمان وي که کافر بالغ وي که نابالغ عاقل وي که لیونی ښځه وي اوکه نرپه هرحال پوستکی له پخولووروسته پاکیږي لقوله ﷺ ﴿ أَيُّمَا إِهَابٍ دُبِغَ فَقَدْ طَهُرَ ﴾ (یعنی هرهغه پوستکی چې پوخ کړای شي نوهغه پاکیږي) اوکله چې پاک شونوله هغه څخه جامه جوړول اوپه هغې کې لمونځ کول یاله هغه

څخه مصله جوړول اوپرهغي لمونځ كول صحيح دي اوله هغه څخه ژي جوړول او بيا دهغه په اوبو سره او دس كول جائز دي.

ف:دامام مالک رحمه الله په نزد دمردارپوستكى نه پاكيږي ولى چې نبي كريم ﷺ دمرداري دپوستكى څخه له نفع اخيستلو منع كړي ده احناف ځواب وركوي چې دمرداري له پوستكى څخه دانتفاع ممانعت له دباغت څخه مخته دي په داسي حال كې چې موږله دباغت څخه وروسته دانتفاع قائل يوله دباغت څخه مخكې موږهم دمرداري له پوستكى څخه دانتفاع قائل نه يو.

(۶۶)مگر دخنزيرپوستكى په دباغت سره نه پاكيږي ولى چې خنزيرنجس العين دي چې دپاكى يې هيڅ صورت نشته لقوله تعالى ﴿فإنه رجس﴾ همداشان دانسان پوستكى دي چې دكرامت له كبله له دباغت وروسته دهغه استعمال جائزنه دي دامطلب نه دي چې دانسان پوستكى په دباغت سره نه پاكيږي بلكه مطلب دادى چې دانسان دپوستكى استعمال جائزنه دي په دباغت سره پاكيږي ولى چې انسان دخنزيرپه شيرنجس العين نه دي.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزددسپي پوستكى هم نه پاكيږي ولى چې دده په نزدسپى هم نجس العين دي داحنافوپه نزدځرنگه چې سپى نجس العين نه دي لهذادسپي پوستكى په دباغت سره پاكيږي اونجس العين په دي وجه نه دي چې كه نجس العين واى نوپه ده به ښكاركول اودمال حفاظت كول جائز نه واى.

(۶۷)دانسان اودمردارشوي حيوان ويښتان اوهډوكي (په دشرط چې له غوړوالى څخه خالي وي)پاک دي كه په اوبوكې ولويږي نواوبه نه مرداريږي همداحكم دمرداردهرهغه جزدى په كوم كې چې ږوندنه وي لكه ښكرى،پلې اوښكرونه وغيره ولى چې دمرداراجزاء په دي وجه نجس دي چې په دوئ كې مرگ حلول كوي اومرگ چې په كوم شى كې حلول كوي هغه مرداريږي په داسي حال كې چې په پورته ذكرشويواجزاوكې له پيل څخه ژوندنه وو لهذاپه دوئ كې مرگ هم حلول نه كوي په دي وجه پاک دي ،دامام شافعي رحمه الله په نزدداشيان نجس دي ولى چې دادمرداراجزاء دي اومردارنجس دى نودهغه اجزاء به هم نجس وي دامام مالک رحمه الله په نزددمرداروينستان پاک دي هډوكې يې پاک نه دي.

دڅاه (كوهي)بيان

(۶۸)وتنزح البئربوقوع نجس (۶۹)لابخرئي إبل وغنم وخرء حمام وعصفور (۷۰)وبول مايؤكل لحمه نجس (۷۱)لامالم يكن حدثا (۷۲)ولايشرب أصلا

ترجمه:اوودي ايستلي شي دكوهي اوبه دنجاست په لويدلو سره ،نه په پچو دوپچو سره ،اودكوترې اوچوغكي په گندگې سره، اوبولي دمأكول اللحم حيواناتو مرداري دي ،نه هغه شى چې دبي اودسي سبب نه وي ،اونه دي څښل كيږي بالكل.

تشريح:(۶۸)قوله وتنزح البئراى وينزح ماء البئر ،ځرنگه چې دڅاه اوبه په الماء الذى يجوزبه الوضوء كې داخلي دي په دي وجه يې دكوهي داوبواحكام هم په دي باب كې ذكركړي دي .كه په كوهي كې نجاست ولويږي كه

نجاست لړوي اوكه ډير نوكوهي به راايستل كيږي (يعنى دكوهي تولي اوبه به راايستل كيږي دامجازده ازقبيل ذكرمحل وارادة الحال) دكوهي اوبه راكښل دسلفوپه اجماع سره دكوهي دپاكوالي شرعي ذريعه ده ،دكوهي دديوالونووغيره دپريمنځلو ضرورت نشته ولى چې دكوهيانواحكام داثاروپه اتباع بنادي نه په قياس اوپه اثاروكې دديوالونووغيره دپريمنځلو ذكرنشته .

(۶۹)قوله لايعرلى اهل وغنم اى لاينزح ماء البيربوقوع بعرلى اهل وغنم،يعنى داوښ اوبزي په يودووپچوسره اودكوترې اوچوغكي دګندګي په لويدلوسره كوهى نه مرداريږي لهذاداوبوداراكښلوضرورت نشته كه پچې لندې وي اوكه وچې ، سالمې وي اوكه ماتي ،دقياس تقاضاخوداده چې دپچوپه لويدلوسره بايد كوهى مردارشي مګراستحساناً دعدم نجاست حكم شوى دى داستحسان وجه داده چې دبانډوپه كوهيانوكې دنجاست له لويدلوڅخه مانع نشته اوحيوان شاوخواپچې كوي اوبادهغه په كوهيانوكې اچوي نودضرورت په اساس لږمعاف ګرځول شوي دي .اودكوترې اوچوغكي دګندګې په لويدوسره كوهى په دې وجه نه مرداريږي چې دكوترې اوچوغكي ګندګي مرداره نه ده ، دامام شافعى رحمه الله په نزدنجسه ده اودهغې په لويدوسره كوهى مرداريږي ولى چې دكوترې اوچوغكي خوړل شوې غذاء له خپل حالت څخه بل حالت يعنى دبدبويې اوفسادخواته متغيره كيږي لهذادچرګې دګندګي په شان ناپاكه ده،زموږدليل دادى دمسلمانانوپه مسجدونوكې دكوترپه ساتلواجماع ده حال داچې د مسجدونودپاک ساتلوحكم شوى دى دالله تعالى ارشاددى﴿وان طهرابيتى﴾ (زماكوريعنى مسجدپاک وساتئ)نوپه مسجدونوكې دكوتردساتلواجازت وركول ددې خبرې دليل دى چې دكوتروګندګي پاكه ده .

ف:دابايديادوساتل شي چې له يودوو پچوڅخه مراددادى چې حدكثرت ته ونه رسيږي يعنى دومره اندازه كوم چې ليدونكى ډيرونه ګڼي ،صحيح داده چې دبانډواوښارونودكوهيانوحكم يودى يعنى په يودووپچوسره نه مرداريږي لمافى الخانية : والفاحش مايستكثره الناس والقليل مايستقله :وقال وبعرالابل والغنم اذاوقع فى البئرلايفسده ويستوى فيه الرطب واليابس والصحيح والمنكسرفى المصركان ذالک اوفى المفازة.(الخانية:۱۰/۱)

(۷۰)دكوموحيواناتوغوښه چې خوړل كيږي دشيخينوپه نزددهغوئ بولي نجسې دي لهذاكه په كوهى كې ولويدلي نوكوهى مرداريږي په دې وجه به دكوهى تولي اوبه راكښل كيږي ،دامام محمد رحمه الله په نزدنجسې نه بلكه پاكي دي ولى چې نبى كريم ﷺ دعرينه قبيلې خلكوته دعلاج په غرض داوښانودبولواوشيدودڅښلوحكم كړى وو .نومعلومه شوه چې مرداري نه دي كنه نبى كريم ﷺ به دڅښلوحكم نه وركاوه .دشيخينودليل دنبى كريم ﷺ داارشاددى ﴿استنزهوا البول فان عامة عذاب القبر منه﴾(له بولوڅخه ځان وژغورئ ولى چې عام عذاب دقبرله دوئ څخه دى)دنبى كريم ﷺ داارشادمطلق دى دماكول اللحم اوغيرماكول اللحم دواړوقسمونوحيواناتوبولوته شامل دى .همدارنګه ماكول اللحم حيوان هم اوبه څښي اوهغه اوبه بل حالت يعنى بدبويې اوفسادطرف ته متغيري كيږي لكه څرنګه چې دغيرماكول اللحم حيواناتوبولي دي لهذادغيرماكول اللحم حيواناتوپه شان دماكول اللحم حيواناتو بولي هم نجسې دي .

(۷۱)قوله لامالم يكن الخ،داعبارت مختصردى تول عبارت په دې ډول دى لايكون الخارج من بدن الانسان نجسامالم يكن حدثاكالقئ القليل والدم اذالم يسل،يعنى دانسان له بدن څخه راوتونكي هغه شيان نجس نه دي په

كوموچې اودس نه ماتيږي مثلاً لړقى اوهغه وينه چې له خپله ځايه ونه بهيږي ولې چې په ډكه خوله قى اوبهيدونكي وينه نجسه ده نو كه لړقى اونه بهيدونكي وينه په اوبو كې ولويږي نو اوبه نه مرداريږي ولې چې لړوينه دغوماشي دويني په څير ده نولكه څرنګه چې دغوماشي وينه نجسه نه ده كمامرنونه بهيدونكي وينه هم نه ده مرداره.

(٧٢)قوله ولايشرب اصلاًاى ولايشرب بول مايؤكل لحمه اصلا،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددماكول اللحم حيوان بولي په هيڅ حال كې هم څښل جائزنه دي كه څه هم ددواء په طوريې څښي ولې چې په پاك حرام شى سره تداوى جائزه نه ده لكه دخرې شيدې ،نوپه نجس حرام شى سره به څنګه جائزوي .اوهمدارنګه دبولوحرمت ثابت دى نوتركه چې دشفاء يقين نه وي له حرمت څخه اعراض نشي كيدلاى اوحال داچې دبولوپه څښلوكې شفاء يقيني نه ده ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزددتداوي لپاره څښل جائزدي اودامام محمد رحمه الله په نزدمطلقاجائزدي لقصة العرنيين،ليكن دعرنيينوپه قصه سره استدلال په دي وجه صحيح نه دى چې ممكن دهغوئ دشفاء تيقن دي نبى كريم ﷺ ته په وحى سره معلوم شوى وي.

دحراموشيانوداستعمال حكم

ف:دحراموشيانوله استعمالوڅخه بغيركه ژوندپه خطركې وو نودضرورت په اندازه استعمال يې بالاتفاق جائزدى اوكه ژوندپه خطركې نه وو بلكه دناروغي دعلاج لپاره دحرام شى داستعمالولو ضرورت وو نوپه دي كې اختلاف دى دامام مالك رحمه الله په نزدپه دي صورت كې دحرام شى استعمالول مطلقاجائزدى ،دطرفينومسلك دادى چې مطلقاجائزنه دى اودامام ابويوسف رحمه الله مسلك دادى چې كه يوپوهه داكتروويل چې دحرام شى له استعماله بغيرجوړيدل ناممكن دي نوپه دي صورت كې دحرام شى استعمالول جائز دي ،دعرنيينوله قصي څخه دامام مالك رحمه الله تائيدكيږي احناف ځواب وركوي چې دعرنيينوپه قصه استدلال صحيح نه ده ولې چې دعرنيينوپه باره كې نبى كريم ﷺ ته دوحى په ذريعه سره معلومه شوي وه چې ددوئ شفاء داوښانودبولوپه څښلوكې منحصره ده په دي وجه نبى كريم ﷺ داوښانودبولو داستعمالولوحكم وركړى وو.

ف:دتداوى بالحرام په باره كې مولاناخالدسيف الله رحمانى صاحب ليكي :دامسئله په حراموشيانو سره دعلاج په جواز اونه جوازپسې تړلې ده ،ګودمتقدمينوپه منځ كې په دي مسئله كې دراي اختلاف وو ليكن متاخرين اوفقها معصرين اوس ددي په جوازمتفق دي دنمونې په شان دزيلعي يو عبارت نقل كوو :وفى النهاية :يجوزالتداوى بالمحرم كالخمروالبول اذااخبره طبيب مسلم ان فيه شفاء ولم يجدغيره من المباح مايقوم مقامه والحرمة ترتفع للضرورة فلم يكن متداوياًبالحرام .(جديدفقهي مسائل:٥/٦١)

(٧٣)وَعِشْرُونَ دَلْوًاوَسَطًايعنى نحوقارة(٧٤)وَأَرْبَعُونَ يعنى خماسة(٧٥)وَكُلَّه يعنى قاة(٧٦)وَالْبِقَاعِ خزان اولفشه

ترجمه: او شل سولاغي دي راوكښل شي په درميانه سولاغي سره د موږک په څير د حيوان په کوهی کې له مره كيدلو څخه، او څلويښت بوښكي د كوترې په شان كې، او ټولي اوبه دا وكښلي شي د بزي په څير په صورت كې او د حيوان د پرسيدو او ورژيدو په صورت كې

تشريح: (۷۳) قوله وعشرون دلوا اى وينزح عشرون دلوا ،يعنى كه په کوهی كې موږک يا د موږک په څير کوم حيوان مثلا چوغکه يا ممولا (يو قسم چوغکه ده چې په شاپې توري کربني وي) يا بهجنگا (يو تور رنګ والا چوغکه ده) يا كرګټ مړشي يا له دوئ څخه يو مړشوي په کوهی كې واچول شي نو د دوئ له راكښلو وروسته به له کوهی څخه له شلو څخه تر ديرشو بوشكو پوري اوبه راكښل كيږي ،شل بوشكې اوبه راكښل واجب دي او لس بوشكې نوري راكښل مستحب دي دا په دي وجه چې د موږک په باره كې مختلف روايات دی په يو روايت كې راغلی دي چې څو بوشكې دي وايستلی شي ،په يو روايت كې داوو بوشكو د راايستلو حكم دی ،په يو روايت كې د شلو بوشكو حكم دی او په يوه كې د څلويښتو بوشكو، زموږ علماو د شلو بوشكو والا روايت ته ترجيع وركړي ده ولی چې دا روايت متوسط بين القليل والكثير دی لهذا شل بوشكې راايستل واجب دي او له دي څخه زياتي مستحب دي د خود موږک د حكم دليل دی او چوغکه وغيره څرنګه چې په جسم كې د موږک سره برابر دي په دي وجه د دوئ هم همدا حكم دی .

ف: د بوشكو په شمار كې منځنۍ بوشكه معتبره ده او منځنۍ بوشكه هغه ده كومه چې عموما د ښار په كوهيانو كې استعماليږي ولی چې په رواياتو بوشكه مطلقه ذكر شوي ده لهذا اعم او اغلب به مراده وي او اعم او اغلبه هغه بوشكه ده كومه چې په كوهيانو كې استعماليږي يو قول دادی چې په كوم كوهی كې كومه بوشكه استعماليږي هغه معتبره ده او يو قول ذادی چې ديوي صاع (د درهم په حساب ۲۷۰ تولي او د مثقال په حساب ۲۷۳ تولي) په اندازه بوشكه معتبره ده. قال شارح التنوير (بدلو وسط) وهو دلو تلك البئر فان لم يكن مايسع صاعا وقال ابن عابدين (قوله وهو دلو تلك البئر) هذا هو ظاهر الرواية (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/۱۵۹)

لهذا كه يې په يوه داسي لويه بوشكه سره اوبه راوكښل شوي چې په هغي كې مثلا شل منځنۍ بوشكي ځايدلي نو د موږک د لويدلو په صورت كې په دي لويه بوشكه سره كه صرف يوه بوشكه اوبه راوكښل شي نو كوهی پاكيږي او كه په دومره كوچنۍ بوشكه سره اوبه راوكښل شوي كومه چې د منځنۍ بوشكي له نيمی سره برابره وه نو بيا به د شلو پرځای څلويښت بوشكي اوبه راكاږي .

(۷۴) قوله واربعون بنحو حمامة اى وينزح اربعون دلوا او قوع نحو حمامة ،يعنى كه په کوهی كې كوتره يا د هغي په مثل بل كوم حيوان مړشو مثلا چرګه يا پشی نو د دی حكم په ظاهر روايت كې دادی چې له څلويښتو څخه تر پنځوسو بوشكو پوري اوبه دي راوكښل شي د څلويښتو راكښل واجب دي او د پنځوسو راكښل مستحب دي په دي باندي دليل ماروا ه الطحاوی...... عن الشعبى فى الطير والسنور ونحوهما يقع فى البئر ينزح منها اربعون دلوا او ماروا ه الطبرانى ....عن حماد بن ابى سليمان انه قال فى دجاجة وقعت فى البئر فماتت قال ينزح منها قدر اربعين دلوا او خمسين ثم يتوضا منها له حديث شريف څخه په څلويښتو او پنځوسو كې اختيار ثابتيږي لهذا ويل كيږي به چې څلويښت بوشكي اوبه راايستل واجب دي او پنځوس مستحب دي او يو قول دادی چې له څلويښتو څخه تر شپيتو بوشكو دي راويستل شي .

(۷۵)قوله و كله اى يجب نزح كل ماء البير بموت نحو شاة يعنى كه په كوهي كې بزه يا دبزې په مثل كوم حيوان مړشونو دكوهي ټولې اوبه را ايستل واجب دي ولې چې كله يو حبشي دزمزم په كوهي كې مړشونو ابن عباس ﷺ اوابن زبير ﷺ دټولو اوبو دراايستلو فتوى وركړې وه ،وزه وغيره څرنګه چې په جسم كې له انسان سره برابر دي په دې وجه ددوئ هم هغه احكم دى.

ف:مګردسپي دلويدلو په صورت كې دسپي مړكيدل شرط نه دې كه چيرته سپي كوهي ته ولويدو اوژوندي راوكښل شونو هم دكوهي ټولې اوبه را ايستل واجب دي په دې شرط چې دده خوله په اوبه لګيدلي وي ولې چې دسپي پس خورده مرداره ده لهذا كوهي دده په پس خورده سره مرداريږي او همدا حكم د هرهغه حيوان دى چې پس خورده يې مرداره وي اودكومو حيواناتو چې پس خورده مكروه وي نو دهغوئ دلويدلو اوژوندي راكښلو په صورت كې اوبه مكروه كيږي لهذا لس بوشكې اوبه بايد را وايستل شي لمافي شرح التنوير:قيد بالموت لانه لواخرج حياوليس بنجس العين ولابه حدث اوخبث لم ينزح شئ الاان يدخل فمه الماء فيعتبر بسوره فان كان نجسا نزح الكل والالا هوالصحيح(الدرالمختار على هامش ردالمحتار:۱/۱۵٦)

(۷٦)قوله وانتفاخ حيوان اى وينزح كله لاجل انتفاخ حيوان ،يعنى كه په كوهي كې كوم حيوان مړشواو وپړسيدو يا وريږيدو نو په دې صورت كې به هم ټولې اوبه را ايستل كيږي كه حيوان كوچنى وي كه لوى ولې چې دپړسيدلو اوريږيدلو له امله دحيوان دمردارو اجزاولوندوالى په اوبو كې خپريږي له دې څكه نو ټولې اوبه مرداريږي.

دچينې لړونكي ځاه بيان

(۷۷)وماتنان لو لم يمكن نزحها(۷۸)ونجسها منذ ثلاث فأرة منتفخة جهل وقت وقوعها(۷۹)والا منذ يوم وليلة

ترجمه:اودوسوه (بوشكې دي را وايستلې شي)كه ممكن نه دټولو اوبو را ايستل،اومرداروي له درو ورځو څخه داسي موږك چې پړسيدلى يا شوريدلى وي اومعلوم نه دلويدلو وخت يې،كنه له يوي شپې اوورځې څخه.

تشريح :(۷۷)قوله وماتنان اى وينزح من البئرمائتان من الدلاء في الصورة التى يجب نزح الكل،كه له مخكې ذكرشويو وجهوڅخه له يووجهي دكوهي ټولې اوبه را ايستل ضروري شو مګركوهي چينه لړونكى وو يعنى اوبه يې نه ختميدلې نو په داسي صورت كې دنجاست دلويدو په وخت به له كوهي څخه دوسوه بوشكې اوبه را وايستل شي نو كوهي پاک ګڼل كيږي، دادامام محمد رحمه الله قول دى هغه چې دبغداد كوهيان وليدل دافتوى يې وركړه ولې چې دهغه ځاى په كوهيانو كې همدومره اوبه وي دشيخينو په نزدچې په كوهي كې څومره اوبه وي هغه را وايستل شي نو كوهي پاكيږي.

ف:داوبو داندازې دمعلومولو په باره كې له امام ابويوسف رحمه الله څخه دوه روايته منقول دي. نمبر۱.په كوهي كې چې تركومه ځايه اوبه دي داوږدوالى ،پلنوالى اوږوروالى په اعتبار سره دهغه په مثل به يوبل

غار وکښل شي او له کوهي څخه به او به ايستل کيږي او په دې کډې کې به اچول کيږي کله چې هغه کډې ډک شي نو د کوهي ټولي او به به را ايستل شوي ګڼل کيږي او کوهي پاک شو.

نمبر ۲. په کوهي کې دې بانس کښته کړای شي کله چې ييخ ته ورسيږي نو را دې کښل شي او دې کتل شي چې او به تر کومه ځايه رسيدلی دی په هغه ځای دې نښه ولګوي بيا دې له کوهي څخه په يو ځل لس بوشکې او به را وباسي او بيا دې دغه بانس دوهم ځل بيا کوهي ته کښته کړي او ودې ګوري چې څومره او به کمې شوي دي مثلاً په کوهي کې لس پوټه او به دي او د لسو بوشکو په را ايستلو سره يو پوټ کمې شوي نو معلومه شوه چې په کوهي کې ټولي او به سل بوشکې دي لهذا ۹۰ بوشکې دې نوري هم را وکاږي نو کوهي پاک ګڼل کيږي.

له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه هم دوه روايته منقول دي ،**نمبر ۱.** د کوهي لرونکو قول معتبر دی کله چې هغوئ له اوبو را کښلو وروسته ووايې چې زموږ په کوهي کې تردې زياتي او به نه وي نو کوهي پاک ګڼل کيږي ،**نمبر ۲.** له دوو داسې کسانو څخه دې تحقيق وشي چې هغوئ ته د او بو په باره کې بصيرت حاصل وي له يوځه او به را ايستلو وروسته چې کله هغوئ ووايې چې په کوهي کې تردې زياتي او به نه وي نو بس کوهي پاک ګڼل کيږي دا قول اشبه بالفقه دی يعنی په فقهي اعتبار سره دا قول راجح دی او احتياط هم په دې قول کې دی لمافي تنوير الابصار وشرحه: يؤخذ ذالک بقول رجلين عدلين لهما بصارة بالماء به يفتى ،قال العلامة الشامي رحمه الله (قوله وبه يفتى)وهو الاصح ،کافي،درر،وهو الصحيح وعليه الفتوى ،ابن کمال، وهو المختار معراج،وهو الاشبه بالفقه هداية الخ (الدر المختار مع الشامية:۱۵۷/۱ فصل في البئر)

(۷۸) که په کوهي کې مرموږک يا کوم بل حيوان پيدا شو مګر دا نه وه معلومه چې موږک يا بل حيوان څه وخت کوهي ته لويدلی دی نو که پړسيدلی وو يا شوريدلی وو نو د دري شپو او ورځو د لمونځونو اعاده به کوي.

(۷۹) قوله والا فمنذ يوم اى وان لم تکن منتفخة لجسها فمنذ يوم ،يعنی که پړسيدلی يا شوريدلی نه وو نو په دې صورت کې حکم دا دی چې له شو ارو ز څخه کوهي مردار ګڼل شي نو که د دې کوهي په او بو سره چا او دس کړي وي او لمونځ يې کړی وي نو هغه د ديوه شو ارو ز لمونځونه را وګرځوي او په کوم شی چې د دې کوهي او به لګيدلی دي هغه دې پريمينځي دا حکم د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دی د صاحبينو رحمهما الله مذهب دا دی چې په دې خلکو د هيڅ شی اعاده نشته تر څو چې د ا يقين نه شي چې حيوان څه وخت کوهي ته لويدلی دی.

د صاحبينو دليل دا دی چې د کوهي او به يقيناً پاکې وي مګر په کوهي کې د مردار حيوان د پيدا کيدو له امله په تيرو شو ورځو کې د کوهي د او بو په پاکی کې شک پيدا شو ولی چې دا احتمال هم شته چې او س څه ساعت مخکې دې ورلويدلی وي او دا احتمال هم شته چې څو ورځې مخکې دې ورلويدلی وي او يقين د شک له امله نه ختميږي لهذا تر څو چې يقين را نشي چې دا حيوان کله ورلويدلی دی تر هغه وخت پورې د نا پاک حکم نشي لګيدلای.

دامام ابو حنيفه رحمه الله دليل دادى چې په اوبوكې دحيوان لويدل دده دمرگ لپاره ظاهرى سبب دى اوقاعده داده چې كه اصل سبب خفي وو نوپه ظاهرى سبب حكم لگول واجب دي لهذادي حيوان مرگ نسبت به په اوبوكې لويدوته كيږي يعنى داسي به گڼل كيږي چې داحيوان په اوبوكې مرشوى دى مگردحيوان پرسيدل اوربړيدل ددي خبري دليل دى چې ددي حيوان دمرگ وخت وتلى دى اودتقادم او وخت تيريدولږه مده دري ورځي ده په دي وجه دتقادم لږه مده په دري ورځي سره مقدره شوي ده اوپه كوم صورت كې چې حيوان پرسيدلى اوشوړيدلى نه وي نودادي خبري دليل دى چې دحيوان په قريبه زمانه كې كوهى ته لويدلى دى اودلمانځه په باب كې دمقاديرولږترلږه مده يوه شپه اويوه ورځ ده ولى چې تردي كم ساعات دي دكوموچې ضبط ممكن نه دى په دي وجه مورددي مقداريوه شپه اويوه ورځ مقرركړ.

ف:دامام ابو حنيفه رحمه الله قول احوط او مفتى به دى لمافى الشامية:فقداعتمدقول الامام البرهانى والنسفى والموصلى وصدر الشريعةورجح دليله فى جميع المصنفات وصرح فى البدائع بان قولهما قياس وقوله استحسان وهو الاحوط فى العبادات(ردالمحتار:۱/۱۶۱)

دپس خوردي بيان

(۸۰)وَالْعَرَقُ كَالسُّؤرِ (۸۱)وَسُؤرُ الْآدَمِيِّ وَالْفَرَسِ ومَايُؤكَلُ لَحْمُهُ طَاهِرٌ (۸۲)وَالْكَلْبِ وَالْخِنْزِيرِ وَسِبَاعِ الْبَهَائِمِ نَجِسٌ (۸۳)وَالْهِرَّةِ (۸۴)وَالدَّجَاجَةِ الْمُخلاةِ وَسِبَاعِ الطَّيْرِ وَسَوَاكِنِ الْبُيُوتِ مَكْرُوهٌ

ترجمه:اوخوله دپس خوردي په مثل ده ،اودانسان ،آس اوهغوحيواناتوپس خورده چې هغوئ غوښه خوړل كيږي پاكه ده، اودسپي اوخنزيراوځناورو پس خورده مرداره ده ،اودپشى اودكوڅه گشتي چرگي اوداښكاري مرغانو اوپه كورونوكې داوسيدونكو حيواناتوپس خورده مكروه ده .

تشريح:كله چې مصنف صاحب رحمه الله دحيوان په اوبوكې په لويدلوسره داوبودپاكي ياناپاكي له بيان څخه فارغ شونو اوس له حيوان څخه دپيداشويوشيانودحكم بيان كوي يعنى دخولې اوپسخوردي بيان كوي ،دسؤرمعنى ده پاتي شوي اوبه ياخواړه وغيره چې هغي ته پس خورده ويل كيږي .

(۸۰)خوله دپس خوردي په څيرده يعنى دكوم شي چې پس خورده پاكه ده دهغه خوله هم پاكه ده اودكوم چې پس خورده مرداره ده دهغه خوله هم مرداره ده ولى چې دواړه له غوښې څخه پيداكيږي لهذاديوه چې كوم حكم وي هغه حكم به دهغه بل هم وي .

ف:البته دخره خوله له دي حكم څخه مستثنى ده چې دده پس خورده خومشكوكه ده مگرخوله يې پاكه ده مشكوكه نه ده ولى چې نبى كريم ﷺ دحجازپه گرمي اودثقل نبوت سره په خره باندي بلاحائله سورشوى دى نوپه داسى حال كي دخره خوله وتل ښكاره ده مگرنبى كريم ﷺ له هغي څخه دځان ساتنى اهتمام نه ده كړى نولهذاددهغي دپاك والى علامه ده لمافى الكفاية:ولانه عليه السلام ركبه ﷺ معروريا والحرحر الحجاز والثقل ثقل النبوة فلابدان يعرق الحمار ولان الشك فى طهورية سؤر الحمار لافى طهارته(الكفاية على هامش الفتح:۱/۹۳)

ف:زموږ په نزددپسخوردي ټول اقسام څلوردي ،**نمبر ۱**. پاكه ده لكه دانسان ،آس اوماكول اللحم حيواناتوپس خورده ، **نمبر ۲**. مكروه ده لكه دپشى وغيره پس خورده ،**نمبر ۳**. مرداره ده لكه دخنزير اوځناوروپس خورده ، **نمبر ۴**.مشكوك فيه ده لكه دخره اوخچرپس خورده .

(۸۱)دانسان پس خورده پاکه ده که مسلمان وي که کافر،جنب وي که حائضه ،همداشان دآس اوهغه حیوانانوپس خورده هم پاکه ده دکوموچې غوښه خوړل کیږي لکه غوا ،بزه ،اوښ وغیره ولی چې اوبه دناړو دګډیدوله امله پس خورده جوړیږي اوناړي له غوښي پیداکیږي دانسان اوماکول اللحم حیوانانوغوښه بلاکراهة پاکه ده لهذاددوئ ناړي به هم پاکې وي نوپه کوم شی کې چې ددوئ ناړي ګډي شي نوهغه شی به هم پاک وي .

ف:دآس دجلاذکرکولووجه داده چې دآس په غوښه کې اختلاف دی دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدحرامه ده مګردامام صاحب رحمه الله په نزددغوښي له حرام والی سره سره دآس پس خورده مرداره نه ده ولی چې د امام صاحب رحمه الله په نزددآس غوښه دنجاست له امله نه ده حرامه بلکه دآله جهادله امله کرامة حرام ګرځول شوي ده لمافی الهندیة:وسؤرالفرس طاهر بالاجماع فی الاصح(هندیة: ۱/۲۳)

دشراب خورپس خورده

ف:که انسان شراب وڅښل اومتصل یې له یوه لوښي څخه اوبه وڅښلي نواوبه مرداریږي ولی چې دشرابو دڅښلو له امله دده خوله مرداره ده البته که ده دشرابو له څښلووروسته دري ځله خپلي ناړي تیري کړي نودده خوله پاکیږي اوس که دی اوبه وڅښي نواوبه نه مرداریږي په دي شرط چې دده په ناړوکې به دشرابو خوندیابوی نه وي لمافی شرح التنویر:(وشارب خمرفورشربها).........(وهرة فوراکل فارة نجس)مغلظ :قال ابن عابدین:(قوله فور شربها)ای بخلاف مااذامکث ساعة ابتلع ریقه ثلاث مرات بعدلحس شفتیه بلسانه وریقه ثم شرب فانه لاینجس ولابدان یکون المراداذالم یکن فی بزاقه اثرالخمرمن طعم اوریح(الدرالمختارمع ردالمحتار: ۱/۱۶۳)

(۸۲)قوله والکلب ،مرفوع دی په اصل کې دلته لفظ دالکلب مضاف الیه ده مضاف دسورلفظ دی چې مقدردی تقدیر دعبارت دادی وسؤرالکلب بیامضاف حذف شواومضاف الیه دهغه پرځای ودریدواود مضاف اعراب مضاف الیه ته ورکړل شو همداشان پاتي نورمعطوفات هم دي ،یعنی دسپی اوخنزیرپس خورده مرداره ده﴿ لقوله ﷺ یغسل من ولوغ الکلب ثلاث مرات ﴾(یعنی پریمنځل کیږي به لوښی دسپی له خولي وهولوڅخه په ده کې دري ځله)کله چې لوښی مرداریږي نو اوبه په طریقه اولی سره مرداریږي ولی چې د سپی ژبه له اوبو سره لګیږي نه له لوښي سره ،اوخنزیرځکه چې نجس العین دی ځکه نودده پس خورده هم مرداره ده همداشان دنوروځناورو لکه زمری ،لیوه ،پړانګ ،ګیدړه اوفیل وغیره پس خورده هم مرداره ده.دامام شافعی رحمه الله په نزددځناوروپس خورده پاکه ده ،زموږدلیل دادی چې دځناورو شیدي او غوښه مرداره ده اوددوئ له پسخوردي څخه ځان ساتل هم ممکن دي نوبایدددوئ پس خورده دسپی اوخنزیر دپسخوردي په شان مرداره وي .

(۸۳)قوله والهرة ای وسؤرالهرة،دپشي په پس خورده کې داحنافواختلاف دی ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزددپشی پس خورده پاکه غیرمکروه ده اودطرفینورحمهماالله په نزددپشی پس خورده پاکه مګرمکروه ده .بیاامام طحاوی رحمه الله دکراهت تحریمي قائل دی اوامام کرخی رحمه الله دکراهت تنزیهي قائل دی ،دقیاس

تقاضاداده چې دپیشی پس خورده مرداره شي ولی چې دپیشی غوښه مرداره ده مګرځرنګه چې پیشی په کوروکې ګرځي راګرځي چې له هغې څخه دخوراک ځښاک دشیانو ساتل ممکن نه دي لهذادضرورت په اساس دپیشی دپسخوردي نجاست ساقط کړای شوی دی کوم ته چې نبی کریم ﷺ هم اشاره فرمایلې ده چې ﴿ إنّها ليست بنجسة إنّها من الطّوّافين عليكم والطّوّافات ﴾ (یعنی پیشی مرداره نه ده ولی چې هغه په تاسي له چکرلګونکوڅخه ده).

ف:مختاراومفتی به دطرفینوقول دی اواصح داده چې کراهت تنزیهي دی اوهغه هم په داسي صورت کې چې له پسخوردي څخه ماسوانوري اوبه وي لمافی الدر المختار وسور هرة ودجاجة مخلاة مکروه تنزیها علی الاصح ان وجد غیره والالم یکره اصلا(الدر المختار علی هامش الشامیة:۱۶۴/۱)

(**۸۴**)قوله والدجاجة المخلاة ای وسؤر الدجاجة المخلاة ،یعنی په مرداریودګرځیدونکي چرګي پس خورده هم مکروه تنزیهي ده ولی چې مخلاته چرګه له نجاست سره مختلطه وي په دي وجه ددي پس خورده له کراهت څخه خالی نه ده البته که په داسي ډول تړل شوي وي چې ددي مشوکه پښوته نه شي رسیدلای یاپه داسي ځای کې تړل شوي وي چې په هغه ځای کې له چرګي ماسوادبل شی ګندګې نه وي نوبیا مکروه نه ده ولی چې له نجاست سره ددي اختلاط پاتي نه شو ،همداشان دڅیرونکومرغانوپس خورده هم مکروه ده ولی چې څیرونکي مرغان مردارخوري لهذاپه مرداریوله ګرځیدونکي چرګي سره مشابه دي ،همداشان په غاروکي داوسیدونکو حیوانانومثلامار،موږک وغیره پس خورده هم دغوښي دحرام والی له کبله مکروه ده دقیاس تقاضاداده چې ددوئ پس خورده مرداره شي مګرپه کوروکې دګرځیدوله امله له دوئ څخه ساتنه مشکله ده په دي وجه ددوئ دپس خوردي نجس والی ساقط شوالبته کراهت پاتي دی.

(۸۵)وَالْحِمَارِ وَالْبَغْلِ مَشْكُوكٌ يَتَوَضَّأُ بِهِ وَيَتَيَمَّمُ إِنْ فَقَدَ مَاءً (۸۶) وَأَيًّا قَدَّمَ صَحَّ (۸۷) بِخِلَافِ نَبِيذِ التَّمْرِ

ترجمه:اودخره اوخچرپس خورده مشکوکه ده اودس دي وکړي په هغې سره اوتیمم دي هم ووهي که نوري اوبه نه وي ،اوکوم یوچې هم مخته کړي صحیح دی ،په خلاف دنبیذ التمر

تشریح:(**۸۵**)قوله والحمار والبغل مشکوک ای وسؤر الحمار والبغل مشکوک فیه ،یعنی دخره اوخچرپس خورده مشکوک فیه ده،مشکوکه ولې ده ؟نوځواب دادی چې دترددفی الضرورت له کبله مشکوکه ده ولی چې خره اکثره دکوروپه دروازوکې تړل کیږي نوضرورت شته مګرداضرورت دومره هم نه دی څومره چې په پیشی اوموږک کې دی ولی چې پیشی اوموږک دکورپه تنګواوتیاره ځایونوکې ننوځي په داسي حال کې چې خره داسي نه دي لهذاکه بالکل ضرورت نه وای لکه په سپی اوځناوروکې نوبیابه بلاشبه دخره پس خورده مرداره وای اوکه ضرورت یقینامتحقق وای نوبلاشبه دپیشی په شان به حلاله اومکروه وای ،په داسي حال کې چې دلته من وجه ضرورت شته اومن وجه ضرورت نشته ،اوموجب طهارت اوموجب نجاست دواړه برابردي نولهذادتعارض له امله دواړه ساقط شول اواصل ته رجوع وشوه اواصل دلته دوه شیان دي داوبوپه طرف کې طهارت اودناروپه طرف کې نجاست دی اوپه دوئ دواړوکې کوم یوأولی نه دی ځکه نومن وجه نجس اومن وجه پاکه ده.

ف: دخچرپس خورده هغه وخت مشکوک فیه ده چې دخري له خیټې پیدا شوی وي که دآسپې یا غواله نسه پیدا شوی وو نو بیا مشکوک فیه نه ده بلکه پاکه ده لماقي شرح التنویر: (و) سور (حمار وبغل) امه حمارة فلو فرساً او بقرة فطاهر كمتولد من حمار وحشي وبقرة (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۱/۱۶۵)

ف: په دې کې اختلاف دی چې شک په طهارت (پاکی) کې دی او که په طهوریت (یعنی پاکولو) کې دی، یو قول دادی چې په طهارت کې دی ولې چې که دا اوبه پاکې وای نو پاکونکې به هم وای ولې چې که کوم پاک شی په اوبو کې ګډ شي نو ترڅو چې غالب شوی نه وي دا وبو طهوریت نه ختمیږي لکه چې دا وبوسره دګلاب اوبه ګډې شي، دوهم قول دادی چې شک په طهوریت کې دی ولې چې که کوم کس دخره په پس خورده سره دسر مسح وکړي او وروسته ده ته مطلق اوبه په لاس ورشي نو پرده دسر پرېمنځل واجب نه دي نو که شک په طهارت کې وای بلاشبه به دسر پرېمنځل پرې واجب وای همدا قول راجح دی وعلیه الفتوی کمافي الخانية: والصحيح ان الشك في طهوريته (فتاوی قاضي خان على هامش الهندية: ۱/۱۸)

ف: ځینې مشائخو له دې څخه انکار کړی دی چې دخره پس خورده مشکوک فیه ده هغوئ فرمایې چې دشریعت یو حکم هم داسې نه دی چې په هغه کې دې شک وي، مګر مشکوک والی صحیح دی مطلب دادی چې الله تعالی ته خو حق معلوم دی شک دبندګانو په اعتبار سره دی ددوئ دفهم دقصور له امله نو دشریعت په اعتبار سره داکومه داعتراض وړ خبره نه ده.

(۸۶) که له اودس کونکی سره دمشکوکو اوبو ماسوا نورې اوبه نه وي نو حکم دادی چې په مشکوکو اوبو سره اودس وکړي او تیمم ووهي، په تیمامه او اودس کې چې کوم یو یې خوبنه شوه مخته دې کړي ولې چې مطهر په حقیقت کې یا اوبه دي یا خاوره، که اولنی وي نو ددوهم په استعمال کې څه فائده نشته که مخته وي که وروسته، او که مطهر دوهم وي نو بیا تقدیم او تاخیر څه تاوان نه کوي لهذا کله چې په دواړو کې یو مطهر دی نو ددواړو جمع کول واجب دي ترتیب واجب نه دی لكن الافضل تقديم الوضوء والاغتسال به عندنا، پورته ذکر شوی تفصیل دائمه ثلاثه مذهب دی، دامام زفر رحمه الله په نزد اول اودس کول ضروري دی بیا تیمم وهل ولې چې واجب الاستعمال اوبه شته لهذا تیمم جائز نه دی.

دنبیذ تمر بیان

(۸۷) نبیذ تمر (نبیذ تمر هغه اوبو ته ویل کیږي چې په هغو کې خورماوې واچول شي ترڅو چې دخورماوو خوږوالی اوبه ته ورشي لیکن تراوسه دا وبو نرم والی پاتې وي) هغه حکم نه دی کوم چې دمشکوکو اوبو دو بلکه که خالصې اوبه نه وي نو دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دې په دې اوبو سره اودس وکړي تیمم دې نه وهي ولې چې نبی کریم ﷺ په لیلة الجن کې کله چې مطلق اوبه پیدا نه کړې نو په نبیذ تمر سره یې اودس وکړ، امام ابویوسف رحمه الله فرمایې چې په دې صورت کې دې صرف تیمم ووهي په نبیذ تمر سره دې اودس نه کوي ولې چې نبیذ تمر مطلق اوبه نه دي او دمطلق اوبو دنیستی په وخت کې حکم دتیمم طرف ته منتقل کیږي، امام

محمد رحمه الله فرمايي چې په نبيذ تمر دي اودس وکړي او تيمم دی هم و وهي يعنی احتياطاً دي دواړه جمع کړي .

ف :فتوی دامام ابويوسف رحمه الله په قول ده لمافي الشامية :(قوله ويقدم التيمم علی نبيذ التمر)اعلم انه روی في النبيذ عن الامام ثلاث روايات .....الثالثة التيمم فقط وهي قوله الاخير وقد رجع اليه وبه قال ابويوسف والائمة الثلاثة واختاره الطحاوي وهو المذهب المصحح المختار المعتمد عندنا(ردالمحتار:١/١٦٧)

بَابُ التَّيَمُّمِ

داباب دتيمم په بيان کې دی

ف :باب لغةً په معنی دنوع دی ،اوپه عرف کې باب دکتاب هغه حصې ته ويل کيږي چې په هغې کې ديوې نوعې مسائلې ذکروي اوهغه فصل نه وي ،دتيمم لغوي معنی مطلق قصد کول دي اوشرعاً دپاکې خاورې په غرض دپاکې سره قصد کولو ته تيمم ويل کيږي ،ځيني وای چې په عضوينو مخصوصينو کې دپاکې خاورې استعمالولو ته تيمم ويل کيږي ،مګرصحيح داده چې دمخ اودواړولاسونو په پاکه خاوره سره دمسح کولونوم تيمم دی اوقصد کول دتيمامه لپاره شرط دی.

ف :څرنګه چې په اوبوسره طهارت حاصلول اصل دی اوپه تيمم سره طهارت حاصلول دهغه خليفه دی اوخليفه له اصل څخه وروسته وي په دي وجه مصنف رحمه الله له اودس څخه وروسته تيمم ذکرکړ ،همدارنګه په قرآن کريم کې هم اودس ،غسل اوتيمم په همدي ترتيب سره مذکوردي .

ف :دتيمم مشروعيت په کتاب الله ،سنت رسول الله او اجماع دريوسره ثابت دی لقوله تعالی ﴿فلم تجدوا ماءً فتيمموا صعيداً طيباً﴾ (يعنی بيا تاسي اوبه پيدا نه کړي نو قصد وکړئ دپاکې خاورې)په حديث شريف کې راغلی دي انه ﷺ قال التراب طهور المسلم ولو الی عشر حجج مالم يجد الماء (يعنی خاوره دمسلمان پاکونکي ده که څه هم ترلسو کالوپورې وي ترڅوچې اوبه پيدا نه کړي)اوامت هم دتيمامه پرثبوت اجماع کړي ده .

(٨٨) تَيَمَّمَ لِبُعْدِهِ مِيلًا عَنْ مَاءٍ (٨٩) أَوْ لِمَرَضٍ أَوْ بَرْدٍ (٩٠) أَوْ خَوْفِ سَبُعٍ أَوْ عَدُوٍّ أَوْ عَطَشٍ أَوْ فَقْدِ آلَةٍ

ترجمه :تيمم وهلی شي له امله دلرې والی له اوبو څخه يو ميل ،يا ناروغي يا يخ (داسي يخ چې دمرګ خطره وي) ،يا ددښمن يا ځناورياتندې له ويرې څخه يا داوبو دراکښلو دآلې دنيستی څخه .

تشريح :(٨٨)که له چاسره دومره اوبه نه وي چې درفع حدث لپاره يې کفايت کړی وای په داسې حال کې دی مسافروي يا مسافرځونه وي مګرله ښارڅخه دباندې وي اوده او اوبوترمنځ يو ميل (په شريعت کې يو ميل دفرسخ دريمې حصې ته ويل کيږي کومه چې دڅلورويشت ګوتوپه ګزسره څلورزره شرعی ګزه وي په انګريزي حساب سره ١.٨٣کلوميټر کيږي، تيزتلونکی کس دومره مسافه تقريباً په لس پنځلس منټه کې وهي)يا زياته فاصله وي نو ددي شخص لپاره جائزده چې په پاکه خاوره سره تيمم ووهي لقوله تعالی ﴿فلم تجدوا ماءً فتيمموا صعيداً طيباً﴾ (يعنی بيا تاسي اوبه پيدا نه کړي نو قصد وکړئ دپاکې خاورې).

ف:دامام زفر رحمه الله په نزدکه دوخت له ختميدوڅخه مخکښ اوبوته وسيدلای شونوتيمم جائزنه دی اوکه دوخت دوتللوخطره وه نوبياترېوميل په لږه اندازه کښ هم تيمم جائزدی ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزدکه داسي صورت وو چښ که داشخص په اوبوپسي ولاړشي اوادوس کوي نوقافله به دده له سترګوڅخه پټه شي اوولاړه به شي نودده لپاره تيمم جائزدی ،اودامام محمد رحمه الله په نزدمطلقادوميلوفاصله دتيمم دجوازلپاره ضروري ده .

(۸۹)قوله اولمرض اوبرداي يتيمم لمرض اوبرد،يعني داوبوله ليري والی ماسواپه دي وخت کښ هم تيمم جائز دی چښ اوبه خووي مګرداشخص ناروغه وي اوغالب ګمان يې داوي چښ که اوبه استعمال کړم نومرض به مې ډيرشي يابه اوږدشي يادااوبوداستعمال لپاره چښ دکوم حرکت ضرورت دی له هغه حرکت څخه عاجزه وي ،همداشان که بي اودسه ياجنبی شخص ته داويره وه چښ که په يخواوبواودس ياغسل وکړم نومړبه شم اويابه ناروغه شم نوهم دده لپاره تيمم جائزدی لقوله تعالی ﴿مايريدالله ليجعل عليكم من حرج﴾ (يعنی الله تعالی نه غواړي چښ په تاسي تنګي وکړي).

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدکه داشخص په ښارکښ وي اوکه په ښارکښ نه وي نودده لره تيمم جائزدی دصاحبينوپه نزددهغه چالپاره چښ په ښارکښ وي تيمم جائزنه دی ولی چښ په ښارکښ غالبا ګرمښ اوبه پيداکيږي لهذاداشخص عاجزنه ګڼل کيږي ،امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چښ ددې شخص په حق کښ عجز حقيقة ثابت دی لهذادعجزاعتباربه کيږي ،دامام صاحب رحمه الله قول صحيح دی په دې شرط که داشخص په ګرمواوبويادحمام په اجرة قدرت نه درلودمطلب داچښ دده لپاره دغسل کولويوه طريقه هم ميسره نه وه ،لمافي الشامية :فصارالاصل انه متى قدرعلى الاغتسال بوجه من الوجوه لايباح له التيمم اجماعا(ردالمحتار:۲۳۳/۱)،اوصاحبين په ښارکښ داوبوله طلب څخه مخته په عدم جوازقائل دي اوکه له طلب څخه وروسته دښارخلګوداوبوله ورکړي څخه منع وکړه نوبيادوئ په نزدهم په ښارکښ تيمم جائزدی كذافى حاشية الشهيدعبدالحكيم الشاولكوتى على هامش الهداية(ماخوذازدرمختارعلى هامش ردالمحتار:۱/۲۴۳باب التيمم).

دفاقدالطهورين حکم

ف:له چاسره که دطهارت لپاره نه اوبه وي اونه خاوره ،هغه ته فاقدالطهورين ويل کيږي نن صبادهوائي سفرونوله امله داصورت ډيرپيښيږي خپله بنده چښ په کال ۱۹۹۶ميلادي کښ له کابل څخه قندهارته روان وو دمازديګرپه وخت داصورت پيش شو،ددې صورت په حکم کښ دائمه و اختلاف دی ،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد به داسي شخص لمونځ نه کوي بلکه وروسته دي قضاراوړي اودصاحبينوپه نزدبه داسړی تشبه بالمصلين کوي يعني دلمونځ کونکی هيئت دي اختيارکړي څه دي نه واي هووروسته به قضاراوړي ،له امام صاحب څخه هم همدې قول ته رجوع ثابته ده اوفتوی هم پردغه قول ده لمافي شرح التنوير(والمحصورفاقد)الماء والتراب (الطهورين)..........(يؤخرهاعنده وقالايتشبه)بالمصلين وجوبافيركع ويسجدان وجدمكانايابساوالايؤمي قائماثم يعيد كالصوم (به يفتى واليه صح رجوعه)اى الامام كمافي الفيض (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۱۸۵/۱)

ف:همداشان که کوم کس داسي ناروغه وو چښ نه يې خپله اودس کولی شواونه تيمم ،اونه کوم بل داسي څوک وو چښ ده ته يې اودس ورکړای وای يايې تيمم وروهلی وای نوداکس دي هم تشبه بالمصلين وکړي

اووروسته دي ددي لمانځه اعاده وکړي .امام مالک رحمه الله فرمايي چې له داسي شخص څخه لمونځ ساقط دی نه يې په دغه وخت کې کول ضروري دي او نه يې وروسته قضا راړل ضروري دي .

(۹۰)قوله اوخوف عدو اي يتيمم لخوف عدو ،يعني که اوبه په داسي ځای کې وي چې په تلوسره له دښمنه ياکوم ځناور څخه خطروو نو هم په تيمم وهلوسره لمونځ کولی شي ولی چې داشخص داوبو له استعمال څخه عاجزه دی او داوبوله استعمال څخه دعاجزشخص لپاره تيمم جائزدی .همداشان که په کوهی وغيره کې اوبه وي مګرداوبو دراکښلوآله يعني بوشکه ،رسی وغيره نه وه نوهم دده لپاره تيمم جائزدی ولی چې داشخص هم داوبوله استعمال څخه عاجزدی .

لطيفه:وروی اعرابی يغطس فی البحرومعه خيط وکلماغطس غطسة عقدعقدة فقيل له ماهذا؟قال جنابات الشتاءاقضيهافی الصيف.(المستطرف)

ف : په شرح وقايه اودهغي په حاشيه کې داقاعده ليکلی ده چې هغه عذرچې تيمم رواکوي کله من جانب الله تعالی وي لکه مرض ،سخته ګرمي ،له تندی څخه ويره وغيره په دي صورت کې تيمم جائزدی اووروسته اعاده واجب نه ده اوکوم عذرچې من جانب العباد وي مثلاً يوځوک دکفاروپه بندی خانه کې بندی وي اوهغه دی اودسه ته نه پريږدي يامحبوس فی السجن وغيره په دي صورتونوکې په تيمم سره دلمانځه اداء کول جائزدي مګردمانع په ختميدوسره اعاده واجبه ده .

(۹۱)مستوعبًا وجهه ويديه مع مرفقيه بضربتين (۹۲)ولو جنبا او حائضا (۹۳)بطاهر من جنس الأرض وإن لم يكن عليه نقع (۹۴)وبه بلا عجز (۹۵)ناويا فلغا تيمم كافر (۹۶)لا وضوءه

ترجمه:په داسي حال کې چې (دتيمم په وهلو کې)احاطه به کوي دمخ اودواړولاسونوسره له څنګلوپه دوه ځله وهلوسره، که څه هم جنب وي ياحائضه وي ،په پاک شي دځمکې له جنس څخه که څه هم نه وي په هغه باندي ګرځ ،اوپه ګرځ باندي له خاوري څخه له عاجزوکيدوبغير،په داسي حال کې چې (دتيمم) نيت کونکی به وی نولغوه ده دکافرتيمم،نه دهغه اودس.

تشريح:(۹۱)قوله مستوعبا،حال دی ديتيمم له ضميرڅخه،يادمصدرمحذوف لپاره صفت دی ای يتيمم تيممامستوعبا، يعنی دتيمم طريقه داده چې له دوضربوڅخه په يوه به دټول مخ مسح وکړي اوپه دوهمه به لاسونه له څنګلوسره مسح کړي لقوله ﷺ ﴿التيمم ضربتان ضربة للوجه وضربة لليدين﴾ (يعنی تيمم ددووضربونوم دی يوه دمخ لپاره اوبله دلاسونولپاره).

دتميم دکيفيت بيان

ف:امام زهری رحمه الله فرمايي چې ترتخرګ پوري دي مسح کړي اوامام حسن رحمه الله له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه يوروايت دانقل کړی دی چې لاسونه دي ترمروندوپوري مسح کړي ،دامام شافعی رحمه الله قديم قول هم همدادی اودهغه قول جديد دادی چې ترڅنګلوپوري دي مسح کړي،اودامام مالک رحمه الله په نزدترمروندوپوري مسح فرض ده اوترڅنګلوپوري سنت ده،مګرزموږ په نزدپه تيمم کې هم داودس په څيردټول اندام استيعاب شرط دی ولی چې تيمم داوداسه قائم مقام دی نو لکه څرنګه چې په اصل کې

استیعاب شرط دی نو په قائم مقام کې به هم شرط وي لهذا تر څنګلو پورې مسح کول ضروري دي وهو الصحيح وعليه الفتوى لمافي شرح التنوير: مسح عاوجهه ويديه مع مرفقيه بضربتين (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۱/۱۷۳)

دمقطوع اليدين حکم

ف: که دچالاس له څنګلو څخه کښته پرې شوی وونو دپاتې برخې مسح دي وکړي اوکه له څنګلو څخه لوړ پرې شوی وو نو بیا دلاسونو مسح کول ساقط دي لمافي شرح التنوير (مع مرفقيه) فيمسحه الاقطع, قال ابن عابدين (قوله الاقطع) اى من المرفق ان بقي شئ منه ولو رأس العضد لان المرفق مجموع رأسي العظمين, رحمتي, فلو كان القطع فوق المرفقين لايجب اتفاقا (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۱/۱۷۳)

ف: حضرت ابن عمر ﷺ او حضرت جابر ﷺ دنبی کریم ﷺ دتیمم طریقه نقل کړې ده فرمایې چې دهغه کیفیت دا دی چې خپل لاسونه په ځمکه ووهي بیا یې دومره وڅنډي چې خاوره لرې شي بیا په هغوئ سره خپل مخ مسح کړي بیا دوهم ځل په ځمکه ووهي اوویې څنډي دخپل کیڼ لاس دڅلورو ګوتو په باطن سره دښی لاس ظاهر په دې دول مسح کړي چې دګوتو له سرو څخه یې پیل کړي او سره له څنګلویې مسح کړي بیا دکیڼ لاس د ورغوی په باطن سره دښی لاس دباطن مسح وکړي ترمړوندپورې اودکیڼ لاس دبټې ګوتې باطن دښی لاس دبټې ګوتې په ظاهر باندې تیر کړي بیا په همدې دول سره دکیڼ لاس مسح وکړي.

(۹۲)قوله ولو جنبا اى يكفيه ضربتان في التيمم ولو كان جنبا، یعنی تیمم په بې اودسي، جنابت، حیض اونفاس ټولوکې دنیت اوفعل په اعتبار سره برابر دی نوڅرنګه نیت اوتیمم چې دبې اودسی لپاره کیږي همداشان دجنابت وغیره لپاره هم دی ولی چې څه خلک دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شول اوعرض یې وکړچې موږدریګنی ځمکې اوسیدونکي یو موږتریوي یوې دوو دوو میاشتوپورې اوبه نشوپیداکولای اوپه موږکې جنب وغیره ټول قسمونه انسان وي نبی کریم ﷺ وفرمایل تاسې په پاکه خاوره سره تیمم ووهئ، مګر دابوبکررازی رحمه الله په نزد تمیز فی النية ضروري دی دبې اودسې په تیمامه کې د رفع حدث نیت کوي او دجنابت په تیمامه کې دې د رفع جنابت نیت کوي.

ف: مګر صحیح او مفتی به قول دادی چې په نیت کې دتمیز ضرورت نشته بلکه چې دطهارت یا استباحة الصلوة نیت وکړي نوکافی دی لمافي البدائع: واما كيفية النية في التيمم فقد ذكر القدوري ان الصحيح من المذهب انه اذا نوى الطهارة اونوى استباحة الصلوة اجزأه (بدائع الصنائع: ۱/۱۷۸، كذا في الهندية: ۱/۲۶)

(۹۳)قوله بطاهر، داپه محل دجرکې دی دضربتين لپاره صفت دی ای بضربتين ملتصقتين بطاهر، مصنف که دبطاهر پرځای بطهور رویلی وای ښه به وای ولی چې مرداره ځمکه له وچیدلو وروسته طاهره ده مګر تیمم نه ده پرې جائز. مصنف رحمه الله له دې ځایه مايجوزبه التيمم (په کوموشیانوچې تیمم جائزدی)بیانوي، نویې وفرمایل چې هرهغه شی چې دځمکې له جنس څخه وي که څه هم په هغه ګرځ نه وي په هغه تیمم جائزدی دادطرفینو مذهب دی دامام ابویوسف رحمه الله په نزد صرف په خاوره اوریګ سره تیمم جائزدی اودامام شافعی رحمه الله په نزد صرف په راشنه کونکې خاوره سره تیمم جائز دی همدا دامام ابویوسف صاحب مرجوع اليه قول دی.

امام شافعي رحمه الله په ارشارباري تعالی ﴿ صعيدا طيبا ﴾ سره استدلال کوی هغه په دي دول سره چې دصعيد معنی خاوره او دطيب معنی راشنه کونکي ده همدا تفسير له حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه څخه هم مروی دی لهذا ددي تقاضا داده چې تيمم دي صرف په راشنه کونکې خاوره سره جائزشي ، دطرفينو دليل دادی چې صعيد دځمکې دمخ نودی ځرنګه چې ځمکه لوړه ده له همدې امله ددي نوم صعيد کښيښود لشو او طيب لکه ځرنګه چې دمنبت په معنی دی همداشان طيب دطاهرپه معنی سره هم کيدای شي نودلته طيب دطاهرپه معنی دی ولی چې داځای دطهارت دی لهذا دصعيدا طيبا معنی ترابا منبتا(راشنه کونکي خاوره)سره کول تقيد المطلق بلادليل دی ،دطرفينو قول راجح دی لمافی الهداية: ويجوز التيمم عندابی حنيفة رحمه الله بكل ماكان من جنس الارض الخ (الهداية: ۱/۱۱۲)

ف: ديوشی دځمکې له جنس څخه دکيدلو علامه داده چې که کوم شی په سوځيدلوسره ايره کيدولکه درخته او يا ويلی کيدولکه اوسپنه نودا دځمکې له جنس څخه نه دی له دي ماسوانورشيان دځمکې له جنس څخه دي لکه خاوره ،ريګ ، ډبره ،ګچ، چونه ،رانجه ،هرتال (يوزهريلی شی دی)وغيره ،لمافی الشامية:(قوله من جنس الارض)الفارق بين جنس الارض وغيره ان كل مايحترق بالنار فيصير رمادا كالشجر والحشيش او ينطبع ويلين كالحديد والصفر والذهب والزجاج ونحوها فليس من جنس الارض (ردالمحتار:۱/۱۷۵)

(۹۴)قوله وبه الخ جاراومجرورپه فعل مقدرپسي متعلق دی ای ويجوز التيمم بالنقع ايضا،يعنی دامام ابوحنيفة رحمه الله په ګرځ باندي تيمم جائز دی که څه هم دپاکې خاوروي له استعمال څخه عاجز نه وي ولی چې ګرځ هم نرمه خاوره ده لهذا په ګرځ باندي هم تيمم جائز دی په داسي حال کې چې دامام ابويوسف رحمه الله په نزدپه خاوره دقدرت لرلوپه صورت کې په ګرځ باندي تيمم جائز نه دی .

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله قول صحيح او مفتی به دی لمافی الهندية:ويجوز بالغبار مع القدرة على الصعيد كذافی السراج الوهاج وهو الصحيح (هندية:۱/۲۷ : كذافی فتح القدير:۱/۱۱۳)

(۹۵)قوله ناويا حال من ضمير يتيمم ،يعنی تيمم دي وکړي په داسي حال کې چې دتيمامه نيت کونکی به وي ،زموږپه نزدپه تيمامه کې نيت فرض دی ولی چې دتيمم معنی په لغت کې قصداواراده ده اوقصدنيت نوم دی اوموږته دتيمم (په معنی دقصداونيت) امرشوی دی اوامردوجوب لپاره وي په دي وجه نيت شرط دی .

ف:همداقول صحيح او مفتی به دی ،نودکافرتيمم لغوه دی ولی چې په کافرکې دنيت اهليت نشته لمافی البدائع :فالنية شرط جواز التيمم فی قول اصحابنا الثلاثة حتی لايصح تيمم الكافر وان اراد به الاسلام (بدائع الصنائع:۱/۱۷۸)

(۹۶)اوپه اوداسه کې ځرنګه چې داحنافوپه نزدنيت فرض نه دی بلکه مستحب دی لهذاکه کافراودس وکړي نواودس يې صحيح دی ولی چې اوبه فی نفسه پاکونکې دي نوددوئ پاکې راوستل له نيت څخه مستغنی دی.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزدځرنګه چې په اودس کې نيت فرض دی په دي وجه ده په نزددکافراودس هم صحيح نه دی، دامام زفر رحمه الله په نزدپه تيمامه کې هم نيت فرض نه دی دده دليل دادی چې تيمم داوداسه خليف دی او خليف دصحت په وصف کې له اصل څخه مخالف نشي کيدلای ،لهذاکله چې اودس بغيرله نيت

صحيح دی نو تيمم به هم بغير له نيت څخه صحيح وي که نه نو دخليفه به په صفت کې له اصل څخه مخالفت لازم شي.

دتيمم دنواقضو بيان

(۹۷) وَلَا يَنْقُضُهُ رِدَّةٌ بَلْ نَاقِضُ الْوُضُوءِ (۹۸) وَقُدْرَةُ مَاءٍ فَضَلَ عَنْ حَاجَتِهِ فَهِيَ تَمْنَعُ التَّيَمُّمَ وَتَرْفَعُهُ (۹۹) وَرَاجِي الْمَاءِ يُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ

ترجمه: او تيمم نه ماتوي مرتد کيدل بلکه دا و داسه ماتونکي تيمم ماتوي، او قدرت پيدا کول په اوبو باندې چې دده له حاجت څخه زياتې وي تيمم ماتوي او پر اوباندې قدرت له تيمم څخه منع را ولي او تيمم رفع کوي او داوبو اميدلرونکې دې ځنډوي لمونځ.

تشريح: (۹۷) قوله بل ناقض الوضوء اى بل ينقضه ناقض الوضوء، يعني که مسلمان تيمم وواهه او بيا مرتد شو (نعوذبالله) نو دده مرتد والى تيمم نه ختموي ولې چې کفر له خو دتيمامه سره منافي نه ده بلکه له شرط تيمم (يعنى نيت تيمم) سره منافي دی او دتيمم نيت له مرتد کيدو څخه مخته راغلى دی لهذا ردت دتيمم ناقض نه دی، بلکه هغه شيان چې اودس ماتوي هغه تيمم هم ماتوي ولې چې تيمم دا ودس خليفه دی او په دې کې شک نشته چې اصل تر خليفه ډير قوي يې نو کوم شی چې داقوی ماتونکی دی نو هغه اضعف لره په طريقه اولی سره ماتونکی وي.

ف: که مصنف صاحب رحمه الله دناقض الوضوء پرځای ناقض الاصل ويلی وای نو دابه بنه او احسنه وه ولې چې داصل لفظ اودس او غسل دواړو ته شامل دی، داحسن والی وجه يې داده چې هر ماتونکی دا وداسه ماتونکی دتيمامه نه دی ځکه چې که مثلاً چادجنابت لپاره تيمم وکړ بيا دده ته حدث اصغر لاحق شو نو دده دا وداسه تيمم ماتيږي مگر دغسل لپاره کړی تيمم نه ماتيږي.

ف: قوله وقدرة ماء فضل عن حاجته اى وينقضه ايضا القدرة ماء فضل عن حاجته، يعني له حاجت څخه دزياتو اوبو پر استعمال قدرت پيدا کول هم تيمم ماتوي مثلاً تيمم لرونکې شخص ته دومره اوبه په لاس ورغلي چې په هغو سره اودس کيدای شوای او هغه پر اودس کولو قدرت هم درلود نو دده تيمم ماتيږي ولې چې دتيمم د مشروعيت لپاره شرط دادی چې داوبو پر استعمال به قدرت نه لري نو داوبو په استعمال قدرت لرل لکه څرنگه چې ابتداءً دتيمم لپاره مانع دی همدا شان انتهاءً دتيمم لپاره رافع هم دی ولې چې په ايت مبارک کې له فلم تجدوا څخه فلم تقدروا مراد دی لهذا د قدرت على الماء په صورت کې تيمم ماتيږي.

(۹۹) که اوبه موجودې نه وې او دا اميد او گمان غالب وو چې دلمانځه تر اخير وخت پورې به اوبه پيدا شي نو په دې صورت کې لمونځ دمستحب وخت تر اخير پورې ځنډول مستحب دی نو که اوبه پيدا شوې وا ودس دې وکړي او لمونځ دې اداء کړي او که اوبه پيدا نه شوې نو په تيمم سره دې لمونځ وکړي، دلمانځه ځنډول په دې وجه مستحب دی تر څو له دوو طهارتونو څخه په اکمل يعني اودس سره لمونځ اداء شي.

ف: که يې بغير له ځنډولو په تيمامه سره لمونځ اداء کړ او بيا اوبه په لاس ورغلي نو که اوبه ديوه ميل دننه وي نو دده لمونځ جائز نه دی او که يو ميل يا تر يوه ميل په زياته فاصله کې وي نو جائز دی، لمافی شرح التنوير (وندب

لراجيه)رجاء قويا (آخرالوقت)المستحب ولولم يؤخروتيمم وصلى جازان كان بينه وبين الماء ميل والالا (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۱۸۲/۱)

(۱۰۰)وَصَحَّ قَبلَ الوَقتِ(۱۰۱)وَلِفَرضَينِ(۱۰۲)وَخَوفَ فَوتِ صَلاةِ جَنَازَةٍ أو عِيدٍ وَلَو بِنَاءً(۱۰۳)لا لِفَوتِ جُمُعَةٍ(۱۰۴)وَوَقتٍ

ترجمه :اوتيمم صحيح دى له وخت څخه مخکې ،اودوو فرضونولپاره ،اودلمانځه دجنازي اودلمانځه داخترد قضاكيدوله ويري څخه كه څه هم په ډول دبناء وي ،نه دجمعه اووختي لمانځه دقضاكيدوله ويري څخه.

تشريح :(۱۰۰)قوله وصح قبل الوقت اى وصح التيمم قبل دخول الوقت ،يعني دوخت له داخليدو څخه مخکې تيمم وهل جائزدى ولى چې تيمم زموږپه نزدطهارت مطلقه دى داسي نه دى چې دحقيقة حدث له وجودسره صرف دلمانځه داباحت لپاره مفيددى لهذاداوبودنيستي په صورت کې داوداسه بدل دى نولكه څرنګه چې اودس تروخت داخليدومخته جائزدى همداشان به تيمم هم تروخت داخليدلوړاندي جائزوي.

(۱۰۱)قوله ولفرضين اى ويصح تيمم واحدلفرضين ،يعني دوه يازيات فرائض په يوه تيمم سره اداء كول هم جائزدي لماقلنا ،دامام شافعي رحمه الله په نزدڅرنګه چې تيمم طهارت ضروريه دى يعني دحقيقة حدث له وجودسره دضرورت له امله داباحت صلوة حكم شوى دى لهذاتروخت مخته اودبل فرض داداء كولولپاره دضرورت دنيستي له امله كافي نه دى.

(۱۰۲)قوله وخوف فوت صلوة جنازة اى ويصح التيمم لاجل خوف فوت صلوة جنازة ،يعني كه جنازه حاضره شوه اودمري ولى له تاماسوابل څوک وو اوستاانديښنه وه كه په اودس كولومصروف شم نودجنازي لمونځ به تيرشي نوستا لپاره سره له قدرته په بنارکې دننه تيمم كول جائز دى همداشان كه داخترلمانځه لپاره حاضرشوي اوداخطره وه چې كه په اودس مشغول شم نوداخترلمونځ به تيرشي نوهم تيمم كول جائزدى كه څه هم دبناء په ډول وي يعني يوچاپه اوداسه سره داخترلمونځ شروع كړى وو په منځ کې اودس مات شونوده لپاره جائزدى چې تيمم دي وكړى اوپردغه لمانځه دي بناء وكړي ولى چې دګڼه ګوڼي ورځ ده اودازدحام له امله كوم مفسدصلوة عارض پيښيداى شي لهذاداخترلمانځه دقضاكيدوله ويري څخه په تيمم سره لمونځ پوره كول جائزدي قوله ولوبناء اى ولوكان مصلى العيدبنى بناء.

ف:قاعده داده چې هرلمونځ چې لاالى بدل (كوم چې قضاشي اودده قائم مقام مثلاقضاءوغيره نه وي) فوت كيږي نوداوبودهستي په وخت کې په تيمم سره دهغه اداء كول جائزدى ،زموږپه نزددجنازي لمونځ اوداخترلمونځ همداشان دى ولى چې ددوئ قضانشته نودالاالى بدل فوتيږي لهذاددوئ دفوتيدوپه صورت کې تيمم جائزدى.

ف:ليكن اشبه في الفقه دادى چې عدم جوازدولى په حق کې مطلق نشي پاته اوجوازدغيرولى په حق کې مطلق نه شي پاتي ؛لان غيرالولى قديكون ممن ينتظراليه كالامام وامير الوقت وعزيزالقوم كماصرح في التجنيس بعده نعم وكذالولى قديكون ممن لاينتظراليه ولايقدرعلى اعادة الصلوة كاكثرالعوام في زماننا(هامش الهدايه)

(۱۰۳)قوله لالفوت جمعة اى لايصح التيمم لاجل خوف فوت صلوة جمعة ،كه په اوداسه دمشغوليدوله امله دجمعې دلمانځه دفوتيدلوخطره وه نودتيمم اجازه نشته بلكه اودس كول ضروري دي نوله اودس كولو څخه

وروسته كه يې دجمعې لمونځ پيدا كړنو دجمعې لمونځ دې اداء كړي اوكه دجمعې لمونځ پيدانه شو نودماپښين لمونځ دې اداء كړي ولې چې جمعه كه څه هم فوت شوه مګر دا دې خليفه يعنى دماپښين لمونځ شته نو دا فوت لاالى بدل نه دى بلكه فوت الى بدل دى په دې وجه دجمعې دفوتيدلو له ويرې څخه تيمم جائز نه دى .

(۱۰۴) قوله ووقت اى لايصح لاجل خوف فوت صلوة وقت ،يعنى كه په اوداسه سره دمشغوليدوله امله دوختى لمونځ دقضاء كيدلو ويره وه نوهم به تيمم نه كوي بلكه اودس دې وكړي نوكه واقعي لمونځ فوت شوى وو نودفوت شوى لمانځه قضادې راوړي ولې چې دا فوت الى بدل دى چې قضاده ،البته په داسې صورت كې ښه داده چې په تيمم سره لمونځ وكړي اووروسته دې اودس وكړي اوقضادې راوړي لمالى الدر المختار: لايتيمم لفوت جمعة ووقت......قال الحلبى: فالاحوط ان يتيمم ويصلى ثم يعيد، اويده العلامة الشامى رحمه الله (الدر المختار على هامش الشامية: ۱/۱۸۰ وكذافي احسن الفتاوى: ۲/۵۳)

(۱۰۵) ولم يعد إن صلى به ونسي الماء في رحله (۱۰۶) ويطلبه غلوة إن ظن قربه (۱۰۷) وإلا لا (۱۰۸) ويطلبه من رفيقه فإن منعه تيمم (۱۰۹) وإن لم يعطه إلا بثمن مثله وله ثمنه لا يتيمم وإلا تيمم

ترجمه: اولمونځ دې نه راګرځوي كه يې كړى وو په تيمم سره په داسې حال كې چې هيري شوې يې وي اوبه پخپله كجاوه كې ،اوهغه دې پلټنه وكړي داوبو ديوه غشى ترفاصلې پورې كه دده ګمان وو داوبو دنژدې والى ،كه نه نه دې كوي ،اواوبه دې غواړي له خپل ملګرى څخه نو كه هغه نه وركولې تيمم دې وكړي ،اوكه هغه اوبه نه وركولې مګر په ثمن مثل سره اوله ده سره ثمن وي نوهم دې تيمم نه كوي كنه تيمم دې وكړي.

تشريح: (۱۰۵) كه مسافر په تيمم سره لمونځ اداء كړ په داسې حال كې چې دده په كجاوه كې اوبه وې نو ددې درې صورتونه دې/**نمبر ۱**. ده په خپله اوبه ايښې وې/**نمبر ۲**. بل چادده په امر ايښې وې/**نمبر ۳**. بل چا بغير دده له امره ايښې وې.

په دريم صورت كې بالاتفاق پرده اعاده نشته ولې چې انسان دبل چادفعل له امله دكوم حكم مخاطب نه وي ،اوپه اولودوصورتونو كې كه په دې ګمان سره چې زما په كجاوه كې اوبه نشته په تيمم سره لمونځ اداء كړ حال دا چې دده په كجاوه كې اوبه وې نو په دې صورت كې بالاجماع تيمم نه دى صحيح شوى لهذا پريه اودس كولو سره دلمانځه اعاده واجبه ده ،اوكه يې اوبه بالكل هيري شوې اوپه تيمم سره لمونځ اداء كړ بيايې په ياد شوې نو دطرفينو په نزد پرده دلمانځه اعاده نشته ،اودامام ابويوسف رحمه الله په نزد دلمانځه اعاده واجب ده ولې چې له دې شخص سره اوبه شته جبكه تيمم دهغه چاليپاره مشروع شوى دى چې له هغه سره اوبه نه وي حال دا چې له ده سره اوبه شته نو دده تيمم صحيح نه دى ،دطرفينو دليل دادى چې داوبوله وجود څخه مراد دادى چې پراوبو قدرت ولري اوپراوبو قدرت لرل بغيرله علم څخه نشي راتلاى نو داداسې شو لكه له ده سره چې اوبه نشته په دې وجه دده تيمم صحيح دى.

ف:دطرفينو قول راجع دی ،مګرپه هغه وخت کې چې اوبه يې په کجاوه کې داسې ځای ايښې وي چې په هغه ځای کې عادة شی هيرېږي اوکه داسې ځای نه وي نوبيااعاده واجب ده ،لمافی شرح التنوير(ونسی الماء فی رحله)وهومماينسی عادة(لااعادة عليه)ولوظن فناء الماء اعادالفاقا کمالونسيه فی عنقه او ظهره الخ(الدر المختار علی هامش ردالمحتار:۱۸۳/۱

ف:په نسی الماء سره احترازدی له هغه صورت څخه چې ده ته داوبو دنيستې شک ياګمان وي ولی چې په داسې صورت کې که ده لمونځ وکړنوبالاتفاق به ددې لمانځه اعاده کوي ،اوپه ثم ذکرالماء سره احترازدی له داسې صورت څخه چې دلمانځه په دوران کې اوبه وريادي شي ولی چې په داسې صورت کې بالاجماع دلمانځه اعاده ضروری ده ،اودقيدچې ولګاوه چې الماء فی رحله په دې سره احترازراغی له دې صورت څخه چې اوبه دده په لاس کې وي يايې مخته پرتې وي اودده هيرې شي اوپه تيمم سره لمونځ وکړي ولی چې په دې صورت کې هم بالاتفاق دلمانځه اعاده لازمی ده ولی چې نه هيريدونکی شی يې هيرشو فلايعتبر النسيان.

(۱۰۶)که دتيمم کونکی غالب ګمان داوو(له علامو څخه يادعادل خبرورکونکی له خبرڅخه) چې دلته اوبه شته نوده لره تيمم نه دی جائز ترڅوچې دی داوبو طلب ونه کړي ديوي غلوه په اندازه سره (دغشی ويشتونکی اوغشی دلګيدودځای ترمنځ فاصلې ته غلوه ويل کيږي اوځينې وايي چې له درې سوه ګزه څخه ترڅلورسوه ګزه پورې غلوه ده)ولی چې غالب رأی په اکثرواحکامو کې ديقين په منزله دی.

ف:اصح داده چې تردومره اندازې پورې پلټنه وکړي چې ده ته هم تاوان نه وي اودده ملګروته هم دانتظارزحمت نه وي لمافی شرح التنوير:وفی البدائع الاصح طلبه قدرمالايضربنفسه ورفقته بالانتظار(الدرالمختارعلی ردالمحتار:۱۸۱/۱)

ف:که په دې صورت کې په کوم کې چې طلب واجب وو متيمم بغيرله طلب څخه په تيمم سره لمونځ وکړنوپرده باندې دلمانځه اعاده واجب ده که څه هم له طلب څخه وروسته ده ته اوبه په لاس ورنشی لمافی الشامية :لکن فی البحرعن السراج ولوتيمم من غيرطلب وکان الطلب واجباوصلی لم طلبه فلم يجده وجبت عليه الاعادة عندهماخلافالابی يوسف ومفاده انه تجب الاعادة هناان لم يخبره(ردالمحتار: ۱۸۱/۱)

(۱۰۷)قوله والالای وان لم يظن لايجب الطلب،زموږ په نزدپه تيمم کونکی باندې داوبو طلب واجب نه دی په دې شرط که ده ته داوبو دنږدې والی غالب ګمان نه وو ،دامام شافعی رحمه الله په نزد بنی اوکينې لورته داوبوپلټنه کول شرط ده ولی چې په ﴿فلم تجدوا ماءً فتيمموا ﴾کې دتيمم حکم داوبو دنيستې په وخت کې دی اوداوبونيستې له طلب څخه وروسته متحققه کيږي په دې وجه داوبوتلاش کول ضروري دي، زموږدليل دادی چې په آيت مبارک عدم وجدان مطلق ذکرشوی دی دطلب يانه طلب قيدنشته په دې وجه ايت شريف په قيددطلب سره نه شي مقيد کيدلای اوځرنګه چې عموماپه ميدانو کې اوبه نه وي اوداوبوپه وجودباندې دليل هم نه وي نوبه داويل کيږي چې داشخص اوبه لرونکی نه دی.

له ملګري څخه داوبودطلب کولوبيان

(۱۰۸)که له رفيق سفر(دسفرله ملګری)سره اوبه وي نوحکم دادی چې له تيمم کولوڅخه مخکې له ده څخه اوبه وغوښتل شي که ده اوبه درکړې نواودس به وکړي اولمونځ به اداء کړي کنه تيمم به وکړي ولی چې په

عموماً او به له چا څخه نه منع کېږي بلکه د غوښتلو په صورت کې ورکول کېږي ، او که ملګري داوبو له ورکړې څخه انکار وکړ نو څرنګه چې په دې صورت کې عجز متحقق شو نو لهذا په تيمم سره دې لمونځ وکړي .

ف: که له خپل ملګري څخه داوبو له غوښتنې مخته يې په تيمم سره لمونځ اداء کړ نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دا تيمم کافي دی ولې چې د بل چا له ملک څخه غوښتل پر ده باندې لازم نه دي ، د صاحبينو رحمهما الله تعالى په دا تيمم کافي نه دی ولې چې او به داسې شی دی چې دهغه له ورکړې څخه عموماً څوک انکار نه کوي لهذا د ملګري سره داوبو د وجود په صورت دی قادر ګڼل کېږي .

ف: په حقيقت کې د امام صاحب رحمه الله او صاحبينو ترمنځ په دې مسئله کې څه اختلاف نشته بلکه له ملګري څخه داوبو غوښتل هغه وخت واجب دي چې دورکړې غالب ګمان وي که نه نو غوښتل واجب نه دي لمافي الشامية: قلت وقد علمت التوفيق بما قدمناه عن الجصاص من انه لا خلاف في الحقيقة فقول المصنف ويطلبه اي ان ظن الاعطاء بان كان في موضع لا يعز فيه الماء وقدمنا عن شرح المنية انه المختار وانه الاوجه فتنبه (ردالمحتار: ١/١٨٥)

(١٠٩) که داوبو غوښتن په ثمن مثل (يعنى د دومره اوبو چې په دې ځای کې څومره قيمت وي) سره داوبو ورکولو ته تيار وو او له بې او د سه سرې سره ثمن مثل هم وو نو دده لپاره تيمم کول جائز نه دی ولې چې ده لره قدرت متحقق شو په دې وجه چې داوبو په قيمت قدرت لرل په اوبو قدرت لرل دي البته که داوبو مالک داوبو له ورکولو څخه انکار وکړ يا په غبن فاحش (ډېر ګران يعنى دوچنده قيمت) سره او به ورکولې نو پر ده باندې په غبن فاحش سره داوبو اخيستل لازم نه دي ولې چې په دې صورت کې ده لره ضرر دی او د مسلمان مال دده د روح په مثل قابل احترام دی او د روح په سلسله کې ضرر ساقط دی نو د مال ضرر به هم ساقط وي .

ف: له غبن فاحش څخه دلته مراد دادی چې په دې ځای کې داوبو څومره قيمت وي داوبو مالک له هغه څخه په دوچنده قيمت سره او بو ورکوي لمافي شرح التنوير (ولو اعطاه با كثر) يعني بغبن فاحش وهو ضعف قيمته في ذالك المكان قال ابن عابدين (قوله وهو ضعف قيمته) هذا ما في النوادر وعليه اقتصر في البدائع والنهاية فكان هو الاولى بحر لكنه خاص بهذا الباب لما يأتي في شراء الوصي ان الغبن الفاحش ما لا يدخل تحت تقويم المقومين (الدر المختار مع ردالمحتار: ١/١٨٤)

د اکثر مجروح لپاره د تيمم حکم

(١١٠) وَلَوْ أَكْثَرُهُ مَجْرُوحًا تَيَمَّمَ (١١١) وَبِعَكْسِهِ يَغْسِلُ وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا

ترجمه: او که د چا اکثر بدن زخمي وو نو تيمم دې وکړي ، او د دې په عکس کې دې پرېمنځي او نه دې جمع کوي د واړه .

تشريح: (١١٠) قوله ولو اكثره مجروحا اي لو كان اكثر بدن المكلف مجروحا يعنى که د چا ټول بدن يا اکثر اندامونه زخمي وو نو هغه دې تيمم وکړي ولې چې داعذر دی .

(١١١) او که د دې عکس وو يعنى اکثر اندامونه يې روغ وو او په ځينې اندامونه يې زخمي وو نو روغ اندامونه دې پرېمنځي او په د زخمي اندامونو پټۍ دې مسح وکړي ، او داسې دې نه کوي چې روغ اندامونه پرېمنځي او په زخمي اندامونو تيمم وکړي ترڅو د بدل او مبدل جمع کونکی نه شي ولې چې په شريعت کې د بدل او مبدل د جمع کولو نظير نشته ، همدا حکم د بې او د سه شخص هم دی چې که دده د او د سه

اكثراندامونه زخمي وو نوتيمم دي وكړي كنه روغ اندامونه دي پريمنځي اودزخمي اندامونو په پټى دي مسح وكړى ،امام شافعي رحمه الله اوامام احمد رحمه الله فرمايي چې روغ اندامونه دي پريمنځي اوپه زخمي اندامونودي مسح وكړي.

ف:قوله وبعكسه يغسل ،داپه هغه صورت محمول دى چې په لاسونوباندى داسي زخم نه وي دكوم لپاره چې اوبۀ تاواني وي نوكه دچالاسونه داسي زخمي وو اوهغه دلاس له استعمال څخه بغيرخپل مخ اوپښي په اوبوكې نشواى داخلولاى اوكوبل شخص اودس وركونكى هم نه وو نوداشخص دي په تيمم سره لمونځ وكړي لمافي شرح التنوير:يتمم لو الجرح بيديه الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار:١/١٨٩)

ف:دغسل اواودس حكم يودى مګرپه اوداسه كې داودا سه داندامونودعدداعتباردى اوپه غسل كې دعدد پرځاى دټول بدن دمساحت اعتباردى نوكتل كيږي به كه دله نيمايي څخه پرزيات بدن زخم وو نوتيمم دي كوي اوپرنيم بدن ياله نيم څخه پرلږبدن زخم وو نومسح دي كوي لمافي شرح التنوير (تيمم لو) كان (اكثره) اى اكثراعضاء الوضوء عدداوفى الغسل مساحة (مجروحا) اوبه جدرى اعتبارا للاكثر (وبعكسه يغسل) الصحيح ويمسح الجريح (و) كذا (ان استوياغسل الصحيح) من اعضاء الوضوء ولاروايةفى الغسل (مسح الباقى) منها (وهو) الاصح لانه (الاحوط) فكان اولى (حوالسابق)

ف:كه په روغ بدن داوبوله تويولو څخه دزخمي حصه ساتل له اوبو څخه مشكل وو نوهمدومره روغه حصه هم دزخمي په حكم كي شمارده قال فى الشامية (قوله وبعكسه) وهومالوكان اكثرالاعضاء صحيحايغسل الخ لكن اذاكان يمكنه غسل الصحيح بدون اصابة الجريح والاتيمم حلية فلوكانت الجراحة بظهره مثلا واذاصب الماء سال عليهايكون مافوقهافى حكمهافيضم اليها (حوالة سابق)

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

داباب پرموزودمسح په بيان كې دى

مسح په لغت كې په يو شي لاس تيرولوته ويل كيږي اوپه شريعت كې مسح على الخفين په مخصوصه زمانه كې په مخصوصو موزودلانده لاس تيرولوته ويل كيږي مسح على الخفين ددي امت له خصائصو څخه ده ،خفين تثينه ذكركولوسره دي خبري ته اشاره ده چې بې له عذره پريوه موزه مسح كول جائزنه دي.

مسح على الخفين اوپه تيمم كې دامناسبت دى چې په دوئ دواړوكې هريوطهارت مسح دى، يا داچې له دوئ دواړو څخه هريودپريمنځلوبدل دى ،البته تيمم دټولواندامونوبدل دى اومسح على الخفين دځينواندامونو بدل دى ،ياداچې له دوئ دواړو څخه هريورخصت موقته دى ،بياتيمم ځرنګه چې په بدليت كې كامل وو ولى چې تيمم داوداسه دټولوافعالوقائم مقام وو اومسح ديوه اندام دغسل يعنى غسل رجلين قائم مقام دى په دي وجه يې تيمم پرمسح على الخفين باندي مخته كړ،ياپې په دي وجه مخته كرچې تيمم په كتاب الله سره ثابت دى اومسح على الخفين بناء على قول صحيح له سنت څخه ثابت دى .

(١١٢)صَحَّ وَلَوْ امْرَأَةً (١١٣)لَا جُنُبًا (١١٤)اِنْ لَبِسَهُمَا عَلَى وُضُوْءٍ تَامٍّ وَقْتَ الْحَدَثِ (١١٥)يَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيْمِ وَلِلْمُسَافِرِ ثَلَاثًا (١١٦)مِنْ وَقْتِ الْحَدَثِ (١١٧)عَلَى ظَاهِرِهِمَا (١١٨)مَرَّةً بِثَلَاثِ أَصَابِعَ يَبْدَأُ مِنْ رُؤُوْسِ الْأَصَابِعِ إِلَى السَّاقِ

ترجمه: صحيح ده پر موزو مسح کول که څه هم ښځه وي ،نه د جنب لپاره ،که يې په پښو کړي وي په داسې اوداسه چې کامل وو د حدث په وقت کې ،يو شپه او ورځ د مقيم لپاره او د مسافر لپاره درې ورځې او شپې ،د حدث له وخت څخه ،د موزو په ظاهره طرف ،يو ځل په درو ګوتو سره شروع دی کې له ګوتو څخه د پنډۍ لورته .

تشريح: (۱۱۲) قوله صح اى اصح المسح على الخفين .يعني د مسح على الخفين جواز ښځي او نردواړو لپاره ثابت دی ولې چې له کومنصوصو څخه مسح ثابته ده په هغوئ کې تعميم دی نرا و ښځي دواړو ته شامل دي .په دي باره کې قولی او فعلی ډيرا حاديث مشهوردي لکه چې امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايې چې زه ترهغه وخته پوري په مسح على الخفين قائل نه شوم ترڅو چې احاديث دورځې درڼايې په مثل ترماراو رسيدل او فرمايې چې که کوم شخص د مسح على الخفين پرجواز عقيده نلري نوهغه بدعتی دی او مروی دی چې له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه داهل سنت والجماعت د مذهب په باره کې پوښتنه وشوه نوده وفرمايل :هوان يفضل الشيخين يعنی ابابکر وعمر علی سائر الصحابة رضي الله عنهم وان يحب الختنين يعنی عثمان وعلی رضي الله عنهما وان يری المسح علی الخفين .البته که يوچامسح على الخفين جائز ګڼله مګرپه عزيمت سره په عمل کولويې مسح ونه کړه نوداشخص عندالله ماجوردی.

ف :د مسح على الخفين په باره کې يې صح وويل واجب يې ونه ويل ولی چې بنده ته په مسح کولو يانه کولوکې اختيارورکړل شوی دی او مستحب يې هم ونه ويل ځکه چې که کوم شخص د جواز عقيده ولري اوفعلاً مسح ونه کړي نوداافضله ده لمافی الشامية :وجه التفريع انه لوکان المسح افضل لكان المناسب ان يقول وهومستحب فعدوله الى قوله وهو جائز يفيدان الغسل افضل منه لانه اشق على البدن (الشامية:۱۹۳/۱)

(۱۱۳) قوله لاجنب اى لايصح المسح اذاكان جنبا .يعني پر موزو مسح له هرهغه حدث څخه وروسته جائزده کوم چې اودس واجبوي لهذا له هغه حدث وروسته مسح جائزنه ده کوم چې د غسل واجبونکی دی لکه :جنابت .او انقطاع حيض او نفاس په صورت کې ؛لحديث صفوان رضي الله عنه كان النبي صلى الله عليه وسلم يأمرنا إذا كنا سفرا أن لا ننزع خفافنا ثلاثة أيام ولياليهن إلا من جنابة» (يعني رسول الله ﷺ موږته حکم کاوه دسفرپه حال کې چې موږ ونه کاږوخپلي موزوي تردرورځو او شپو پوري مګر له جنابت څخه)همدارنګه په هغه حدث کې چې اودس واجبوي دتکرارله امله حرج دی ځکه له ده وروسته د مسح رخصت دی حال داچې د غسل لازمونکی حدث کې تکرارنشته نوحرج هم نشته لهذا د مسح رخصت نشته .او همدارازځرنګه چې په غسل دټول بدن پريمنځل واجب دی چې له موزوسره ممکن نه دی ځکه د موزوايستل ضروري دي .

(۱۱۴) داهم شرط دی چې موزي به په کامل اوداسه سره په پښو شوي وي بيابې اودسې پيښه شي يعنی د حدث په وخت کې دده اودس کامل وي نوپرموزومسح کول جائزدي په دي سره احتراز راغی له هغه صورت څخه چې که يوچاصرف پښي پريمنځلي اوموزي يې په پښو کړي اوبيادپاتي اوداسه له پوره کولوڅخه مخکې ده ته حدث پيښ شونوداودس کولو پروخت پرموزومسح کول جائز نه دي ولی چې له کامل اوداسه مخته حدث دپښولورته هم سرايت کوي نوکه په دي صورت کې هم پرموزومسح جائز شي نوددي مطلب به داشي چې موزي رافع للحدث دی حال داچې موزي رافع نه بلکه مانع للحدث دي .

(۱۱۵) قوله يوما وليلة اى صح المسح يوما وليلة، په دي عبارت كښ د مسح د مدي بيان دى نو ويې فرمايل چې د مقيم لپاره د مسح مده يوه ورځ او شپه ده او د مسافر لپاره دري ورځې او شپې ده ﴿لقوله ﷺ يمسح المقيم يوما وليلة والمسافر ثلاثة ايام ولياليها﴾ (يعنى مقيم دي يوه ورځ او شپه مسح كوي او مسافر دي دري ورځي او شپې مسح كوي)، د امام مالک رحمه الله په نزد د مقيم لپاره مسح على الخفين جائز نه ده او د مسافر لپاره موقته نه ده بلكه مسافر چې ترڅو غواړي مسح كولى شي.

(۱۱۶) قوله من وقت حدث اى ابتداء المدة يعتبر من وقت الحدث. يعنى كله چې اودس وكړي او موزي په پښو كړي نو له دي وخت څخه د مسح مدة نه شروع كيږي بلكه كله چې اودس مات شي له هغه وخت څخه به د مسح مدة شروع كيږي مثلا نن د ماپښين پر وخت موزي په پښو كړي او د مازديگر پر وخت اودس مات شو نو كه دى مقيم وو نو يوه ورځ او يوه شپه وروسته يعنى صبا د مازديگر پر وخت د مسح مدة ختميږي او كه مسافر وو نو دري ورځې او شپې وروسته پردغه وخت يعنى د مازديگر پر وخت د مسح مدة ختميږي يعنى د مسح مدة مازديگر دا او داسه له ماتيدلو څخه وروسته شروع كيږي ولي چې موزه د حدث له سرايت څخه مانع ده نو د مسح مدة به هم له هغه وخت څخه شروع كيږي له كومه وخته چې موزي د حدث سرايت د رولى دى، د امام شافعي رحمه الله په نزد د مسح مدة د مسح د شروع كولو له وخته څخه پيل كيږي.

(۱۱۷) قوله على ظاهرهما اى يمسح على ظاهرهما، يعنى د موزو پر ظاهر مسح كول ضروري دي نو كه د موزي پر باطن يې مسح وكړه يا پر پونده يا پر پندى نو دا جائز نه ده ولى چې پر موزو مسح كول خلاف قياس ثابته ده لهذا پر كوم ډول چې شريعت وارد شوى د هغه به پوره پوره رعايت كيږي او څرنگه چې د شريعت ورود د موزو د ظاهر پر مسح شوى دى ځكه به نو د موزو پر ظاهر مسح كول مشروع وي نه پر باطن، ﴿قال على رضي الله عنه لو كان الدين بالرأي لكان باطن الخف اولى بالمسح من اعلاه لكن رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يمسح على ظاهرهما﴾ (يعنى حضرت على رضي الله عنه فرمايلي دي چې دين پر رأيه بنا واى نو د موزي كښته حصه د پورته حصي په نسبت د مسح زياته مستحقه وه ليكن ما رسول الله ﷺ د خپلو موزو د ظاهر پر مسح كولو وليدى)، او مسح پر هري موزي طولا و عرضا د لاس د دريو وړو گوتو په اندازه ضروري ده يعنى د لاس دري گوتي چې پر موزه كښيږدى څومره ځاى نيسي د همدومره ځاى مسح كول ضروري دي كه لندي گوتي پر كښې كړي مسح وكړي او كه په باران يا بل شي باندې دومره اندازه ځاى لوند شي نو د مسح لپاره كافي دى. دا بايد ياد وساتل شي چې دا د فرضيت بيان دى پاته شو د سنت طريقي او اندازي بيان هغه د راروانې مسئلي په بيان كښ شته.

ف: نو كه پر يو موزه د دوو گوتو په اندازه او پر بله موزه د څلورو گوتو په اندازه مسح وشوه يا په هره يوه موزه د درو گوتو تر اندازي كمه مسح وشوه نو دا كفايت نه كوي لما فى الدر المختار: وفرضه عملا قدر ثلاث اصابع اليد اصغرها طولا وعرضا من كل رجل، قال ابن عابدين: (قوله من كل رجل) اى فرضه هذا القدر كائنا من كل رجل على حدة قال فى الدرر حتى لو مسح على احدى رجليه مقدار اصبعين وعلى الاخرى مقدار خمس اصابع لم يجز وايضا قال العلامة قبل اسطر اشار الى ان الاصابع غير شرط وانما الشرط قدرها فلو اصاب موضع المسح ماء او مطر قدر ثلاث اصابع جاز وكذا لو مشى فى حشيش مبتل بالمطر (الدر المختار مع الشامية: ۱/۱۹۹)

ف: د امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد د موزو پر ظاهر مسح كول فرض دى او پر باطن سنت دى لانه ﷺ مسح اعلى الخف وباطنه (يعنى نبى كريم ﷺ د موزو پر پورته او كښته دواړو مسح وكړه)، زموږ له طرفه دوئ

ته خواب ورکړل شوی دی چې کوم حديث ستاسي مستدل دی امام ترمذی او امام ابوداؤد رحمهما الله تعالى دهغه تضعيف کړی دی ،قال ابن عابدين وما رواه شافعي رحمه الله شاذ لا يعارض هذا مع انه ضعفه اهل الحديث ولهذا قيل انه يحمل على الاستحباب ان ثبت (ردالمحتار: ۱/۱۹۶)

(۱۱۸) دمسح طريقه داده چې يوځل دښی لاس ګوتې دښی موزي پرمخکنی حصه باندي کښيښودل شي او دکيڼ لاس ګوتې دکيڼي موزي پرمخکنی حصه کښيښودل شي او بيا دواړه دپنډی لورته کښ کړای شي او ګوتې بايد خلاصي وي ﴿لحديث المغيرة رضي الله عنه ان النبي ﷺ وضع يديه على خفيه ومدهما من الاصابع الى اعلاهما مسحة واحدة وكاني انظر الى اثر المسح على خف رسول الله خطوطا بالاصابع﴾ (يعني نبی کريم ﷺ خپل دواړه لاسونه پرخپلو دواړو موزو کښيښودل او دګوتو له څخه يې پورته لورته کښ کړل يوار مسح يې وکړه او ګويا زه دنبی کريم ﷺ دګوتو دکرښو اثر دمسح پرموزو باندي وينم)

ف: او که يې دپنډی له طرفه مسح وکړه نوهم جائزده مګر دسنت خلاف ده لما في قاضي خان: وصورة المسح على الخفين ان يضع اصابع يده اليمنى على مقدم خفه الايمن ويضع اصابع يده اليسرى على مقدم خفه الايسر ويمدها الى الساق فوق الكعبين يفرج بين اصابعه وان بدأ من اصل الساق ومد الى الاصابع جاز (قاضي خان على هامش الهندية: ۱/۳۶)

(۱۱۹) وَالْخَرْقُ الْكَبِيرُ يَمْنَعُهُ وَهُوَ قَدْرُ ثَلَاثِ أَصَابِعِ الْقَدَمِ مِنْ أَصْغَرِهَا وَالْقَلِيلُ لَا (۱۲۰) وَيُجْمَعُ فِي خُفٍّ لَا فِيهِمَا (۱۲۱) بِخِلَافِ النَّجَاسَةِ وَالِانْكِشَافِ

ترجمه: او زيات څيروالی مانع دی مسح لره او هغه په اندازه دپښو دريو کوچنيو ګوتو دی او لږه اندازه څيروالی مانع نه دی ،او جمع کيږي به په يوه موزه کې نه په دواړو کې ،په خلاف دنجاست او کشف عورت.

تشريح: (۱۱۹) په کومه موزه کې چې څيري والی ډيروي نو هغه له مسح څخه مانع دی يعني پرداسي موزو مسح کول جائز نه دی ، او که څيري والی لږوو نو هغه مانع نه دی يعني پرداسي موزو مسح کول جائز دی دقياس تقاضا داده چې دلږ څيري والی په صورت کې هم مسح جائز نه شي ولی چې کوم ځای ښکاره ده په هغه کې حدث حلول کوي لهذا دهغه پرمينځل ضروری دی او په پرمينځلو کې پښي متجزی نه دی لهذا ټوله پښه پرمينځل لازميږي ،مګر استحسانا دلږ څيري والی په صورت کې مسح جائز ګرځول شوي ده ولی چې عادة موزه له لږ څيري والی څخه خالی نه وي نو که دلږ څيري والی په صورت کې دمسح اجازت ورنه کړل شي نو په دي کې حرج دی او حرج شرعاً مدفوع دی لهذا لږ معاف دی جبکه له ډير څخه موزه خالی وي نو په کښلو کې دحرج دنيستي له امله دموزو دکښلو حکم دی مسح جائز نه ده دامام شافعي رحمه الله په نزد لږ څيري والی هم مانع دی او دامام مالک رحمه الله په نزد ډير څيري والی هم مانع نه دی.

دقليل او کثير معيار داد ی چې که دپښي دکوچنيو دريو ګوتو په اندازه يا تردي زيات دپښي کومه حصه دموزي له يو ځايه ښکاره شوه نو دا کثير څيروالی دی او که له دي څخه کمه اندازه ښکاره شوه نو دا څيري والی قليل دی ولی چې په پښه کې اصل ګوتي دي همدا وجه ده چې که چا دبل دپښو ګوتې پرې کړي نو پرده پوره ديت لازميږي ،او په پنځو ګوتو کې درې ګوتی اکثري دي وللاکثر حکم الکل لهذا درې ګوتی دټولي پښي قائم مقام دي نو دريو ګوتو ښکاره کيدل ګويا دټولي پښي ښکاره کيدل دي په دي وجه پرموزي مسح جائز نه ده او دپښو په ګوتو کې دکوچنيو ګوتو په معتبرولو کې احتياط دی.

ف: دا باید یاد وساتل شي چې د دریو ګوتو د اندازي اعتبار هغ وخت دی چې څیري والی له ګوتو څخه علاوه په کومه بله حصه کې وي، که څیري والی د ګوتو پر سر وو نو بیا د دریو ګوتو اندازه نه بلکه درې ګوتې پخپله معتبري دي لهذا که بټه ګوته او له هغې سره د څنګ ګوته ښکاره شوه نو پر داسي موزي مسح کول جائز دي که څه هم دغه څیري والی د دریو کوچنیو ګوتو په اندازه وي ترڅو چې دریمه ګوته نه وي ښکاره شوي لما فی الدر المختار: هذا لو الخرق علی غیر اصابعه .... فلو علیها اعتبر الثلاث ولو کبارا ،وفی الشامیة (قوله اعتبر الثلاث) ای التی وقعت فی مقابلة الخرق لان کل اصبع اصل فی موضعها فلا تعتبر بغیرها حتی لو انکشفت الابهام مع جارتها وهما قدر ثلاث اصابع من اصغرها یجوز المسح وان مع جارتها لا یجوز (الدر المختار مع الشامیة: ۲۰۰/۱)

(۱۲۰) قوله لا فیهما ای لا یجمع فی الخفین، یعني که یوه موزه څو ځایه څیري وه نو دا ټول به سره جمع کیږي که د دریو کوچنیو ګوتو اندازي ته ورسید ونو دا څیري والی د مسح لپاره مانع دی یعني پر داسي موزه مسح کول جائز نه ده او که دواړه موزي څو ځایه څیري وي نو د دوئ څیري والی به نه سره جمع کیږي ولی چې دیوي څیري والی په بله کې له سفر کولو څخه مانع نه دی.

(۱۲۱) قوله بخلاف النجاسة والانکشاف ای بخلاف النجاسة المتفرقة فی خفیه اولوبه وبخلاف انکشاف العورة المتفرق بخلاف نجاست او کشف عورت یعني که پر دواړو موزو یا پر جامو څو ځایه لږ لږ نجاست وو کوم چې په یو ځای جمع کولو سره دیوه درهم اندازي ته رسید و نو د هغه اعتبار به کیږي لهذا نه پر داسي موزو مسح کول جائز دي او نه په داسي جامو کې لمونځ کول جائز دي ولی چې دا شخص د نجاست حامل دی او کوم شخص چې د نجاست حامل وي که هغه متفرق وي که مجتمع ،که دیوه درهم په اندازه وو نو له هغه څخه پاکي حاصلول واجب ده له پاکی حاصلو څخه بغیر د هغه شخص لمونځ نه صحیح کیږي ، همدا حکم د کشف عورت هم دی چې که څو ځایه لږ لږ عورت ښکاره وي نو هغه به سره جمع کیږي او کتل کیږي به که د داندام د څلورمي په اندازه وو نو لمونځ صحیح نه دی ولی چې کشف عورت هم د نجاست په شان دی.

دمسح دنواقضو بیان

(۱۲۲) وَيَنْقُضُهُ نَاقِضُ الْوُضُوءِ (۱۲۳) وَنَزْعُ خُفٍّ (۱۲۴) وَمُضِيُّ الْمُدَّةِ إنْ لَمْ يَخَفْ ذَهَابَ رِجْلِهِ مِنْ الْبَرْدِ (۱۲۵) وَبَعْدَهُمَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ فَقَطْ (۱۲۶) وَخُرُوجُ أَكْثَرِ الْقَدَمِ نَزْعٌ

ترجمه: او ماتوي مسح هغه چې ماتوي او دس ، او ایستل د موزي ، او د مدي د مسح تیریدل که ویره نه وه د ضایع کید و د پښې د یخني له امله ، او له دوئ د واړو وروسته دی پریمنځي صرف پښي ، او وتل د اکثر پښي وتل دی .

تشریح: (۱۲۲) کوم شیان چې اودس ماتوي هغه مسح هم ماتوي ولی چې مسح علی الخفین د اودس جزدی نو کوم چې کل لره ماتونکی وي هغه جز لره په طریقه اولی سره ماتونکی وي .

(۱۲۳) قوله ونزع الخف ای ینقضه ایضا نزع الخف ،یعني دیوي موزي په ایستلو سره هم مسح ماتیږي ولی چې پښي ته بی اودسي سرایت کولو څخه پښه مانع وه نو کله چې مانع لري شونو بی اودسي سرایت وکړ لهذا مسح ماته شوه ،همدا رنګه که د همدې پښي پریمنځل لازم کړای شی او پر بله پښه مسح وکړي نو په

يوه وظيفه کې به مسح او غسل سره جمع شي کوم چې ممنوع ده ،دخف په مفرد ذکرکولو سره يې اشاره وکړه چې ديوې موزې ايستل مسح ماتوي اوکه چې ديوې موزې ايستل مسح ماتوي نو ددواړو ايستل به په طريقه اولی سره مسح ماتوي.

(۱۲۴)قوله ومضى المدة دا عطف دی پرونزع الخف باندې ای وينقضه مضى المدة ،يعنی دمسح دمدې په تيريدو سره هم مسح على الخفين ماتيږي ﴿لحديث صفوان بن عسال ﷺ ان النبى ﷺ كان يامرنا ان لا ننزع خفافنا ثلاثة ايام﴾ (يعنی نبی کريم ﷺ موږته امرکاوه چې موږ خپلې موزې تردريوورځوپورې نه وباسو)له حديث څخه دا ثابتيږي چې موزې تردريوورځوپورې پښوته دحدث له سرايت څخه مانع دي اوکله چې مده پوره شي نو مخکنی حدث دپښوطرف ته سرايت کوي نوګويا ده پښې پريمنځلي نه دي ،مګرپه پورته ذکرشويو صورتو نوکې دپښوپريمنځل په هغه وخت کې ضروري دي چې ديخنی له کبله دپښو دضائع کيدلو خطره نه وي که نه نو دپښې په شان دي پرتولو موزو مسح وکړي اودا مسح ترکومه وخته موقته نه ده بلکه ترکومه وخته چې دضياع خوف وي مسح به کوي ولی چې ضرورت دی اوضرورت ځايونه دشريعت له دلائلو څخه مستثنی دي لمافى الدرالمختار:ومضى المدة ....ان لم يخش بغلبة الظن ذهاب رجله من بردللضرورة فيصير كالجبيرة فيستوعبه بالمسح ولايتوقت(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۱/۲۰۱)

(۱۲۵)قوله وبعدهما غسل رجليه اى بعد النزع والمضى غسل رجليه ،يعنی دموزې دايستلو اودمسح دمدې دپوره کيدلو په صورت کې که ددې شخص اودس وو نوهغه دې موزې وباسي اوصرف پښې دې پريمنځي اولمونځ دې وکړي دباقی اودامو اعاده پرده لازمه نه ده ولی چې په دې دوو صورتونوکې حدث سابق صرف پښوته سرايت کوي باقی اندامو ته سرايت نه کوي لهذا صرف پښې دې پريمنځي مګردا حکم داحنافو په نزد دی دامام شافعی رحمه الله په نزدکه اودس وي که نه وي بيرته به نوی اودس کوي.

(۱۲۶)که دپښې اکثره حصه له موزې څخه ووتله نودا تولې پښې وتل ګڼل کيږي لهذا موزه به کاږي اوپښې پريمنځل لازم دي ولی چې للاکثرحکم الکل دادامام ابويوسف رحمه الله قول دی دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدکه ټوله ايړي يا اکثره ايړی له موزې څخه راووتله نومسح باطليږي ولی چې کله محل غسل په موزه کې وي دمسح حکم شته اوکه چې محل غسل له موزې څخه راووځي نو دمسح حکم باقی نه پاتيږي.

(۱۲۷)وَلَوْ مَسَحَ مُقِيمٌ فَسَافَرَ قَبْلَ تَمَامِ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ مَسَحَ ثَلَاثًا (۱۲۸)وَلَوْ أَقَامَ مُسَافِرٌ بَعْدَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ نَزَعَ وَإِلَّا يُتِمُّ يَوْمًا وَلَيْلَةً

ترجمه :که مسح وکړه مقيم بيا يې سفرشروع کړديوې شپې اوورځې ترپوره کيدومخته نو تردرووورځو اوشپو پورې دې مسح وکړي ،اوکه مقيم شو مسافرله يوې شپې اورځې وروسته نوموزې دې وکاږي که نه پوره دې کړي درې ورځې اوشپې.

تشريح :(۱۲۷)که چاپه حالت داقامت کې مسح شروع کړه بيا له يوې شپې اوورځې پوره کيدلو مخکې ده سفرشروع کړنوپه دې صورت کې دده دمسح داقامت مدة دسفرمدة لورته منتقل کيږي نو دا شخص به اوس درې ورځې اوشپې مسح کوي ولی چې دمسح حکم تروخت پورې متعلق وي اودکوم شی حکم چې تروخت پورې متعلق وي په هغه کې دا خيروخت اعتبارکيږي اوپه اخيروخت کې څرنګه چې دا شخص مسافردی لهذا دمسح به دسفرمدة پوره کوي.

(۱۲۸)که مسافرمقیم شونو که ده داقامت مدة پوره کړي وي يعنى يوه ورځ اوشپه يې مسح کړي وي نوموزي دي وکاږي اوپښي دي پريمنځي ولې چې دسفررخصت له سفرڅخه بغيرنه پاتيږي اوکه يې ديوي شپې اوورځي مدة نه وي پوره کړي نوهغه دي پوره کړي ولې چې داقامت مدة همدومره ده اوداشخص اوس مقيم دی .

(۱۲۹)وَصَحَّ عَلَى الْجُرْمُوقِ(۱۳۰)وَالْجَوْرَبِ الْمُجَلَّدِ وَالْمُنَعَّلِ وَالثَّخِينِ(۱۳۱)لَاعَلَى عِمَامَةٍ وَقَلَنْسُوَةٍ وَبُرْقُعٍ وَقُفَّازَيْنِ

ترجمه:اوصحيح ده مسح پرجرموق باندي ،اوپه داسي جواربوچې مجلديامنعل ياسختي وي ،نه په لنگوټه باندي اوپرخولۍ باندي اوپرچادري باندي اوپردستانوباندي .

تشريح:جرموق پرموزوبرسيره اغوستل کيږي اودجرموق ساق دموزي ترساق کوچنى وي صاحب القاموس الوحيد دجرموق داسي تعريف کړی دی :هغه کوچنۍ موزه چې پرلويه موزه برسيره په پښو کيږي ،يادچرمي پرموزه دټوکرکوچنۍ موزه وگنډل شي دحفاظت لپاره په پښو کيږي .

(۱۲۹)قوله وصح على الجرموق اى وصح المسح على الجرموق ،يعنى زموږپه نزدپه موزوسربيره پرجرموق مسح کول جائز ده،دامام شافعي رحمه الله په نزدجائزنه ده ،دامام شافعي رحمه الله دليل دادی چې موزه دپښوبدل دی اوپه رأيه سره دبدل بدل مقررکول جائز نه دي ترڅوچې په شريعت کې نه وي واردشوی، زموږدليل دحضرت عمر رضي الله عنه دحديث دی ﴿قال رأيت النبي صلى الله عليه وسلم يمسح على الجرموقين﴾ (يعنى ماوليدل چې نبى کريم ﷺ پرجرموقينو مسح وکړه)همدارنگه جرموق په استعمال اوغرض کې دموزي تابع دي په استعمال کې په دي وجه چې جرموق په ولاړيدلو ،کښيناستلو ،تگ راتگ کې دموزي سره يوځای وي اوپه غرض کې په دي وجه چې جرموق دموزي دحفاظت لپاره وي لکه څرنگه چې موزه دپښو دحفاظت لپاره وي نوپرموزه برسيره جرموق داسي شوه لکه دوطاقه موزه اوددوطاقه موزي په برسيرن طاق باندي بالاتفاق مسح کول جائز ده لهذاپرموزوبرسيره پرجرموقينوهم مسح کول جائز دی .

ف:مگرشرط دادی چې له موزي پښوکولووروسته له بي اودسي پيښدلومخته جرموقين په پښوشوي وي اوکه له بي اودسي پيښدلووروسته په پښوشوي وي نوپرداسي جرموقينومسح کول جائزنه دی ،داهم شرط دی چې پرموزوله مسح کولوڅخه مخته په پښوشوي وي که پرموزوله مسح کولوڅخه وروسته پښوشوي وي نوبياهم پرجرموقينومسح جائزنه ده لمافى الشامية :وأن يلبسهماقبل ان يمسح على الخفين اواحدث بعدلبسهماثم لبس الجرموقين لايجوز المسح عليهمااتفاقالانهماحينئذلايكونان تبعاللخف (الشامية:۱/۱۹۷)

پرجرابو،پگړۍ،وغيره باندي دمسح بيان

(۱۳۰)قوله والجورب المجلداى وصح المسح على الجورب المجلد،يعنى پرجورابو(دکتان ياوړيوموزوته جورين ياجراب ويل کيږي) که ټينگې اوپنډي وي په دي دول چې اوبه يې دپښولورته نه جذبولي اومنعل (صرف په لاندنۍ حصه يې چمړه گنډل شوي وي)يامجلد(پرټوله جورابه چمړه وهل شوي وي)وي نوپردوئ بالاتفاق مسح کول جائز ده اوکه نه سختي اوپنډي وي اونه منعل اومجلدي وي نوپردوئ بالاتفاق مسح

كول جائز نه دہ او كه سختي اوپنډي وي اوبه يې نه جذبولي مگرمنعلي يامجلدي نه وي نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپردوئ مسح جائز نه ده دصاحبينوپه نزدجائز ده دصاحبينودليل دحضرت ابوموسى اشعري رضي الله عنه حديث دى چې ﴿ان النبي ﷺ مَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ﴾ (چې نبي كريم ﷺ په خپلو جورابو مسح وكړه) همدارنګه كه جورابې پنډي وي چې بې له ترلوپه پنډى باندى تكيه كيږي نودهغوئ په پښوكولوسره تګ راتګ اوسفركول ممكن دى نوداجورابې دموزوپه مشابه شوي لهذادموزوپه څيرپردوئ هم مسح كول جائز دي .دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادى چې جورابې له موزوسره ملحق كول په هغه وخت كې صحيح دي چې جورابې من كل وجه دموزوپه معنى وي حال داچې جورابې داسې نه دي ولى چې دموزوپه پښوكولوسره مواظبت مشى (هميشه رفتاركول)ممكن دي اوپه غيرمنعلوجورابو كې مواظبت مشى ممكن نه ده ،هوپه منعلوجورابو كې مواظبت مشى ممكن ده په دي وجه پردوئ مسح كول جائز ده دحضرت ابوموسى اشعري رضي الله عنه دحديث محمل هم منعلي جورابې دي.

ف:له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه روايت شوى دى چې ده رحمه الله په خپل مرض وفات كې په غيرمنعلو جورابو مسح وكړه اوعيادت كونكوته يې وويل فعلت ماكنت انهى الناس عنه (يعني ماهغه كاروكړله كوم څخه چې ماخلك منع كول)نوله دي واقعي څخه استدلال شوى دى چې ده رحمه الله دصاحبينوقول ته رجوع كړي ده وعليه الفتوى لمافي الهندية :ويمسح على الجورب المجلدهو الذى وضع الجلدعلى اعلاه واسفله والمنعل وهو الذى وضع الجلدعلى اسفله كالنعل للقدم والثخين الذى ليس مجلداو لامنعلابشرط ان يستمسك على الساق بلاربط ولايرى ماتحته وعليه الفتوى (هنديه:۱/۳۲)

ف:دامت دټولو مستندوفقهاء كرامواومجتهدينوعظاموپه دي خبره اتفاق دى چې هغه نرمي موزي له كوموڅخه چې اوبه وڅي ياهغه بې له دي چې په يوشى وترل شي په پنډى نشي تكيه كيدلاى ياپه هغوئ كې ميل يادوه ميله مسلسل رفتار نشي كيدلاى پرهغوئ مسح كول جائزنه دي اونه پرچپلانومسح كول جائز دي اوڅرنګه چې زموږپه زمانه كومي سوتى اونى نائيلون موزي رواج دي هغه نرمي وي مذكوره صفتونه په دوئ كې نشته په دي وجه پردوئ په هيڅ حال كې هم مسح كول جائزنه دي اوكوم څوک چې داسې كوي نودامام ابوحنيفه ،امام شافعي ،امام مالک اوامام احمد رحمهم الله تعالى بلكه ديوه مجتهدپه مسلک كې هم دده اودس صحيح نه دى ،والله سبحانه وتعالى اعلم بالصواب (فقهي مقالات ۲/۲۴۰)

(۱۳۱)قوله لاعلى عمامة وقلنسوة اى لايصح المسح على عمامة وقلنسوة ،يعنى عمامه (لنګوټه)خولى ، چادرى اوپردستانو باندي مسح كول جائز نه دي ولى چې پرموزودمسح كولورخصت له نص څخه خلاف قياس ثابت دي په دي وجه پردوئ دبل شى قياسول صحيح نه دي همدارنګه پرموزودمسح كولورخصت دحرج ددفع كولولپاره دى حال داچې ددغوشيانوپه ايسته كولوكې حرج نشته په دي وجه داشيان پرموزوپه قياسولوسره پردوئ مسح جائزه نه ده .

(۱۳۲)وَالْمَسْحُ عَلَى الْجَبِيرَةِ وَخِرْقَةِ الْقُرْحَةِ وَنَحْوِ ذَلِكَ كَالْغَسْلِ لِمَا تَحْتَهَا (۱۳۳)فَلَا يَتَوَقَّتُ (۱۳۴)وَيُجْمَعُ مَعَ الْغَسْلِ (۱۳۵)وَيَجُوزُ وَإِنْ شَدَّهَا بِلَا وُضُوءٍ (۱۳۶)وَيُمْسَحُ عَلَى كُلِّ الْعِصَابَةِ كَانَ تَحْتَهَا جِرَاحَةٌ أَوْ لَا (۱۳۷)فَإِنْ سَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ بَطَلَ وَإِلَّا لَا (۱۳۸)وَلَا يَفْتَقِرُ إلَى النِّيَّةِ فِي مَسْحِ الْخُفِّ وَالرَّأْسِ

ترجمه: او مسح پرجبیرة باندي او دزخم پرپټۍ باندي او همداسي پرنورشیانو باندي دپرېمنځلو په مثل ده ،نو ددي لپاره دوقت تعین نشته ،او جمع کیږي به دپرېمنځلوسره ،او مسح پري جائزده که څه هم ترل شوي وي بي له اوداسه ،او مسح دي کوي پرټوله پټۍ باندي که تردي لاندي زخم وي او که نه وي ،نوکه ولویدله دجوړوالي له امله نومسح باطله شوه که نه نونه ده باطله ،او ضرورت نشته نیت ته د موزي او سرپه مسح کې.

تشریح: جبیره دمات شوی هډوکی دترلولرګی ته ویل کیږي ،(۱۳۲)جبیره ،دزخم پټۍ اونوري پټیاني مثلاً دفصدپټۍ پردي ټولومسح کول دماتحت الجبیرة دپرېمنځلوپه مثل ده لهذاپه اوداسه کې دجبیري خلاصول ضروري نه دي ولی چې دجبیري وغیره په خلاصولوکې حرج دی او حرج شرعاًمدفوع دی.

پرپټۍ ،پلستردمسح حکم

ف:که پلسترخلاصول دزخم لپاره تاواني وو نوپلسترخلاصول اودهغه اندام پرېمنځل ضروري نه دی بلکه پرپلسترمسح کول کافي ده اوهغه پلستردجبیري په حکم کې ده اوکه دپلسترخلاصول تاواني نه وو مګرپلسترترعام مروج قیمت څخه دیرګران پیداکیدویاخوږي قیمت زیات نه وو مګردغریبي له امله داخیستلوقدرت نه وو نوهم مسح جائزده.

(۱۳۳)دمسح علی الجبیرة لپاره وقت مقدرنه ده بلکه دزخم ترجوړیدوپوري پرهغي مسح جائزده ولی چې دمسح علی الجبیري دحدپه معین کولوکې کوم حدیث نه ده واردشوی په خلاف دمسح علی الخف چې دهغي لپاره وقت مقدردی همدارنګه په دي وجه هم چې پرجبیره مسح دماتحت الجبیره دپرېمنځلوپه څیرده لهذاددي لپاره کوم وخت مقدرنه دی.

(۱۳۴)ومسح علی الجبیرة دپرېمنځلوسره جمع کیدای شي یعنی صرف دپټۍ پرځای دي مسح وکړي اوباقی اندام دي پرېمنځي ولی چې مسح علی الجبیرة دپرېمنځلوبدل نه دی چې جمع بین البدل والمبدل لازمه شي چې ناروا ده حتی که دیوي پښي پرجبیري باندي مسح وکړه اوپربله پښه یې موزه وه نوپرهغي مسح جائزنه ده ولی چې داحکماجمع بین الغسل والمسح ده چې جائزنه ده.

(۱۳۵)پرجبیره مسح جائزده که څه هم دبي اودسي یاجنابت په حال کې ترل شوي وي ولی چې داحدپه ورځ دحضرت علی مروندمات شو نونبی کریم حضرت علی ته پرجبیره دمسح کولوحکم وکړ، څرنګه چې په دي حدیث کې ددي ذکرنشته چې جبیره په اوداسه سره ترل شوي وه که بغیرله طهارته ،لهذاپرمطلق جبیره مسح کول مشروع ده که په طهارت سره ترل شوي وي اوکه بغیرله طهارت څخه ،اوڅرنګه چې جبیره دضرورت په وخت کې ترل کیږي نوپه دي حالت کې دطهارت شرط لګول مفضی الی الحرج ده په دي وجه په بی اودسي سره پرترل شوي جبیره هم مسح کول جائزدی.

(۱۳۶)اودضرورت له کبله پرټوله پټۍ مسح کولی شي که ترهغي لاندي زخم وي اوکه نه وي ولی چې پټۍ په داسي دول نه شي ترل کیدلای چې صرف پرزخم وي ،اوداودس لپاره په خلاصولوکې حرج دی لهذاچیرته چې زخم نه وي په هغي هم مسح جائزده مګرداپه هغه وخت کې ده چې جبیره خلاصول اودجبیري

ماتحت پرېمنځل مضروي كه نه نو دجبيري خلاصول او دزخم شا وخوا پرېمنځل او پرزخم مسح كول ضروري دي په دې شرط چې دجبيري دخلاصولو او تړلو قدرت ولري كه پخپله پردې قادر نه وو او معاون يې هم نه درلود نو بيا دې جبيره نه خلاصوي بلكه مسح دې پرې وكړي .

ف :له حسن ابن زياد رحمه الله څخه روايت دى چې دټولې پټۍ پر ځاى كه په اكثرپټۍ باندې مسح وكړي هم جائزده البته پرنصف ياترنصف پركم باندې مسح كول كافي نه ده همدا صحيح ده لمافي شرح التنوير (ولايشترط)في مسحها(استيعاب وتكرار في الاصح فيكفي مسح اكثرها) مرفيه الفتوى (الدر المختار على هامش رد المحتار: ١/٢٠٦)

(١٣٧)قوله عن برء، عن دلام تعليليه پرمعنى دى اى فان سقطت لاجل برء قوله والالاای لم تسقط عن برء بل لاعن برء لايطل ،يعنى كه دزخم دجوړوالى له امله جبيره ولويدله نو مسح على الجبيره باطليږي ولى چې دكوم عذرله امله مسح على الجبيره مشروع وه هغه عذرختم شواوكه دزخم له جوړيدلوبغير جبيره ولوليدله نومسح نه باطليږي ولى چې دجبيري دلويدلوسره دمسح دجواز عذرموجوددى اوتركله چې عذرباقى وي نوپرجبيره مسح كول داسې دي لكه دهغې دلاندې پرېمنځل، په خلاف دموزې چې كه هغه وتله نومسح باطليږي كمامر .

(١٣٨)دموزې اوسرپه مسح كې دنيت كولوضرورت نشته يعنى مسح على الخف والرأس كې نيت كول ضروري نه دي ولى چې دا اودس جزونه دي نو لكه څرنګه چې په كل (يعنى اودس)كې نيت شرط نه دى همداشان دموزې اوسرپه مسح كې هم نيت شرط نه دى ،دځينو حضراتو رأيه داده چې په مسح الخف كې نيت شرط ده ولى چې دا دتيمم په څېردپرېمنځلو بدل ده .

ف :مګرصحيح داده چې دنيت ضرورت نشته لمافي الهنديه: ولاتشترط النية للمسح على الخفين وهو الصحيح (هنديه:١/٣٣) كذافي الدر المختار: ١/٢٠٦)

بَابُ الْحَيْضِ

دا باب دحيض په بيان كې دى

له ماقبل سره يې مناسبت دادى چې مخكې دهغو احداثو ذكروو چې كثيرالوقوع وو او په دې باب كې قليل الوقوع احداث مذكوردي ،په عنوان كې صرف حيض ذكرشوى دى حال داچې په تفصيل كې دنفاس ذكرهم دى نوددي وجه داده چې دحيض وقوع دنفاس په نسبت زياته ده په دې وجه يې په عنوان كې صرف حيض ذكرشوى دى .

(١٣٩)هو دم ينفضه رحم امرأة سليمة عن داء وصغر

ترجمه :حيض هغه وينه ده كومه چې غورځوي دداسې ښځې رحم چې سالمه وي له ناروغۍ او كم عمرۍ څخه .

تشريح :(١٣٩)حيض لغة دسيلان اوبهيدلوپه معنى دى ويل كيږي حاض الوادى اى سال يعنى شيله وبهيدله ،مصنف رحمه الله دحيض اصطلاحي تعريف په دې ډول كړى دى چې حيض هغه وينه ده كومه چې دداسې ښځې رحم غورځوي كومه چې له ناروغۍ ،حمل او ورکتوب څخه سالمه وي .

په تعريف کې په لفظ رحم سره احترازدی دپوزي ،استحاضه اودزخمو له ويني څخه ولی چې داوينه له رحم څخه نه ده اوپه امرأة قيدسره احترازدی دسوی اواسمان څکالی له ويني څخه ،اوپه سليمة عن داء قيدسره دنفاس وينه خارجه شوه ولی چې نفاسه ښځه دمريضي په حکم کې ده اودصغرپه قيدسره دنهوکالو څخه دکم عمره انجلۍ درحم له ويني څخه احترازدی ،مګرددي قيدضرورت په دي وجه نشته چې دامرأة په قيدسره نابالغه خارجيږي ولی چې امرأة بالغي ښځي ته ويل کيږي لکه چې رجل بالغ سړی ته ويل کيږي اوحيض ته دحيض ويلووجه داده چې په خپل وخت کې بهيږي.

(۱۴۰)وأقله ثلاثة أيام وأكثره عشرة (۱۴۱)ومانقص أوزاد استحاضة (۱۴۲)وماسوى البياض الخالص حيض

ترجمه:اودحيض کمه مدة دري ورځي ده اواکثره مده يې لس ورځې ده اوکوم چې تردي کم يازيات شي هغه استحاضه ده اوله خالص سپينوالی څخه ماسوا حيض دی.

تشريح:(۱۴۰)يعني دحيض لږه مده زموږپه نزددري ورځې اودري شپې ده ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزددوه پوره ورځې اوددريمي ورځې اکثره حصه دحيض اقله مده ده هغه اکثردکل قائم مقام جوړکړی دی ،دامام مالک رحمه الله په نزدمطلق وينه حيض ده که څه هم يوګړی وي اودامام شافعي رحمه الله په نزددحيض اقله مده يوه شپه اوورځ ده ،زموږدليل هغه حديث دی کوم چې ابوامامه باهلی رضي الله عنه اوحضرت ابن عمر رضي الله عنهما روايت کړی دی چې ﴿انه صلى الله عليه وسلم قال أقل الحيض للجارية البكر والثيب ثلاثة أيام وأكثره عشرة أيام﴾ (يعنی اقل مده دحيض دپيغلي انجلۍ اوواده شوي ښځې په حق کې دري ورځې اوشپې ده اواکثرمده لس ورځې ده).

زموږپه نزددحيض اکثره مده لس ورځې ده له لس ورځوڅخه زيات استحاضه ده دامام شافعي رحمه الله په نزد پنځلس ورځې ده دامام ابوحنيفه رحمه الله اولنی قول هم همدادی ،دامام مالک رحمه الله په نزددحيض داقل مدي اواکثري مدي لپاره څه حدنشته ،اودامام احمد رحمه الله څخه اظهرروايت دادی چې دحيض اکثره مده اولس ورځې ده ،زموږدليل هغه حديث دی چې په مخکنی مسئله کې تيرشويعنی اکثره (الحيض عشرة ايام) اودشريعت يوشی مقدرکول له دي څخه مانع دی چې له هغه سره بل شی لاحق کړای شي نوکومه وينه چې دشرع له تقدير څخه کمه يازياته وه هغه له حيض سره نشی ملحق کيدای بلکه هغه استحاضه ده.

(۱۴۱)کومه وينه چې له پورته ذکرشوی مدي څخه کمه يازياته وي هغه استحاضه (هغه ښځه چې ددي وينه دمرض له کبله وځي هغي ته مستحاضه ويل کيږي) ده ولی چې پورته بيان شوچې له دريو ورځوڅخه کم اوترلسوورځوزيات حيض نه دی لهذاتردريو ورځوکم اوترلسوورځوزيات استحاضه ده.

(۱۴۲)حائضه ښځي ته چې دحيض په ورځوکې په کوم رنګ هم وينه راشي هغه حيض ګڼل کيږي عامه ده که يې سور رنګ وو که زيړ ،که خاکي ،که تور ،که زرغون اوکه شين رنګ وو ترڅوچې خالص رطوبت راشي ﴿لحديث علقمة بن ابی علقمة عن امه مولاة عائشة رضي الله عنها ام المؤمنين انها قالت لما روي أن النساء كن يبعثن إلى عائشة رضي الله عنها بالدرجة فيها الكرسف فيه الصفرة من دم الحيض فتقول لاتعجلن حتى ترين القصة البيضاء﴾ (يعنی علقمه بن ابی علقمة له خپلی مورچې دحضرت عائشي رضي الله عنها ازادکړل شوي مينځه وه څخه روايت کوي چې ښځوبه يوه ډبه کې دحيض په زيړرنګو وينولړل شوی کرسف (هغه توکرچې ښځي يې دحيض په ورځوکې استعمالوي) حضرت ام

المؤمنين عائشه ﷺ ته راليږی اوپوښتنه به يې کوله چې لمونځ وکړي؟ نوحضرت عائشه ﷺ دوئ ته فرمايل چې تلوارمه کوی تردې چې خالص سپينوالی ونه وينئ)يعنی له حيض څخه پاکی شی .ښکاره خبره ده چې حضرت عائشې ﷺ چې څه فرمايلي دي هغه يې له نبی کريم ﷺ څخه اوريدلی دي او فرمايلي دي.

(۱۴۴)يمنع صلاةً وصوماً وتقضيه دونها(۱۴۵)وَدخول مسجد(۱۴۶)وَالطواف(۱۴۷)وَقربان ماتحت الإزارِ(۱۴۸)وَقراءة القرآن وَمسّه إلّا بغلافه(۱۴۹)وَمنع الحدث المسّ(۱۵۰)وَمنعهما الجنابة وَالنفاس

ترجمه:حيض مانع دی لمانځه اوروژي لره اوښځه به قضااوري دروژي نه دلمانځه ،اومانع دی له دخول مسجد څخه ، اوله طواف څخه ،اوله نامه څخه ترزنگونوپوري له نزديکت څخه ،اودقران کريم له ويلوڅخه اودقران کريم له مس کولو څخه مگرله پوښ سره ،اومانع ده بې اودسي قران کريم ته له لاس وروړلو څخه ،اوله دواړوڅخه مانع دی جنابت اونفاس.

تشريح :(۱۴۴)قوله وتقضيه دونهااى تقضى الصوم دون الصلوة .يعنی حيض له لمانځه اوروژه نيولوڅخه مانع دی حائضه ښځه دحيض په دوران کې نه لمونځ کولی شي اونه روژه نيولی شي ولی چې دحيض په دوران کې دلمانځه اوروژي نيولوپه حرمت باندې دامت اجماع ده .بيادحيض له ختميدووروسته به دروژي قضااوري مگردلمانځه قضانشته ولی چې دلمانځه په قضاکې حرج دی په دې وجه چې حيض عموما هره مياشت راځي اوپه يوه ورځ کې پنځه لمونځونه فرض دي په دې دول سره دحيض په لسوورځوکې لمونځونه پنځوس جوړيږي اوپه مياشت کې دپنځوسولمونځونوپه قضااوړلو کې عظيم حرج دی اوروژه ځرنگه چې په کال کې يوه مياشت ده په دې وجه دهغې په قضاکې څه حرج نشته .

ف:دحائضې ښځې لپاره دامستحب دی چې دلمانځه پروخت اودس وکړي اوپه مصله کښينی اوتر دومره وخته پورې په ذکراواذکارومشغوله شي په څومره وخت کې چې دابنځه لمونځ کولی شي لماقی الهنديه:ويستحب للحائض اذادخل وقت الصلوة ان تتوضاوتجلس عندمسجدبيتهاتسبح وتهلل قدرمايمكنهااداء الصلوة لوكانت طاهرا(هنديه:۳۸/۱)

(۱۴۵)قوله ودخول مسجدوالطواف الخ اى ويمنع الحيض ايضادخول مسجدالخ.يعنی حيض مسجدته له ننوتلوڅخه مانع دی يعنی حائضې ښځې لره مسجدته ننوتل جائزنه دي همدادجنبی حکم هم دی ﴿لحديث عائشة ﷺ ان النبی ﷺ قال وجهوا هذه البيوت عن المسجد فانّي لا أحلّ المسجد لحائضٍ ولا جنب﴾(يعنی نبی کريم ﷺ وفرمايل چې ددې کورنودروازې له مسجدڅخه وگرځوئ ولی چې زه مسجد دحائضې اوجنبی لپاره حلال نه گرځوم).

(۱۴۶)قوله والطواف اى يمنع الحيض الطواف بالبيت .يعنی حائضه ښځه دې دبيت الله طواف نه کوي ولی چې نبی کريم ﷺ حضرت عائشې ﷺ ته دحيض راتلوله امله وفرمايل ﴿لاتطوفي بالبيت﴾ (دبيت الله طواف مه کوه) همدارازطواف ځرنگه چې په مسجد حرام کې کيږي او حائضې ښځې لره مسجدته ننوتل ممنوع دي په دې وجه طواف کول هم ممنوع دي .

(۱۴۷) قوله وقربان ماتحت الازار اى يمنع الحيض قربان ماتحت الازار، حيض د حائضې ښځې سره له نزديكت ځخه مانع دى يعنى له حائضې ښځې سره دخاوند جماع كول حرامه ده لقوله تعالى ﴿وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ﴾ (نزديكت مه كوئ له حيض والاوو سره ترڅو چې دوئ پاكې شي) له قربت ځخه مراد وطى ده.

ف: څرنګه چې له حائضې ښځې سره وطى كول حرامه ده لهذا كه كوم شخص له حائضې ښځې سره وطى كول حلال وګڼي نو دځينو علماو په نزد داسې شخص كافر كيږي اګرچه ترجيح ددې خلاف ته وركړل شوې ده او كه دحرمت عقيده وه او له ښځې سره يې وطى وكړه نو فاسق او دګناه كبيره مرتكب ګرځي لهذا پر ده توبه واجب ده لمافى الدر المختار (ويكفر مستحله) كما جزم به غير واحد وكذا مستحل وطء الدبر عند الجمهور مجتبى (وقيل لا) يكفر فى المسئلتين وهو الصحيح خلاصة (وعليه المعول) لانه حرام لغيره (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۱/۲۱۸)

ف: له حائضې ښځې سره دجماع او مباشرت درې صورتونه دي (۱) له نامه ځخه لوړ او له زنګنو ځخه كښته له بدن ځخه فائده واخيستل شي، دا جائزده (۲) دنامه او زنګنو ترمنځ حصې باندې بغيرله حائله استمتاع او تلذذ حاصل كړاى شي، دا ناجائزده (۳) دنامه او زنګنو ترمنځ پر حصه باندې استمتاع حاصل كړاى شي په داسې حال كې چې جامه يا غيره حائل وي، دا جائزده لمافى الدر المختار: ويمنع .... وقربان ماتحت ازار يعنى مابين سرة وركبة ولو بلا شهوة وحل ماعداه مطلقا. قال ابن عابدين: فيجوز الاستمتاع بالسرة ومافوقها والركبة وماتحتها ولو بلا حائل وكذا بمابينهما بحائل ولو للطبخ دما ولا يكره طبخها ولا استعمال ما مسته من عجين او ماء او نحوهما (الدر المختار مع الشامية: ۱/۲۱۴)

(۱۴۸) قوله وقرأة القران اى يمنع الحيض قرأة القران، حيض دقران له قرأة ځخه مانع ده يعنى حائضې ښځې ته دقران كريم ويل جائز نه دي ﴿لقوله ﷺ لَا تَقْرَأُ الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ﴾ (يعنى حائضه او جنب دي له قران ځخه هيڅ هم نه وايي)، داحديث باطلاقه يوه ايت او تر يوه ايت كم دواړو ته شامل دى په داسې حال كې چې امام طحاوى رحمه الله له يوه ايت ځخه دلږ ويل جائز بولي مګر قول اول اصح دى، همداشان حائضې ښځې ته بغيرله جامې دقران كريم مس كول هم جائز نه دي ﴿لقوله ﷺ لايمس القران الا طاهر﴾ (چې نه دمس كوي قران مګر پاک) و ﴿لحديث حكيم بن حزام رضي الله عنه قال: لما بعثنى رسول الله ﷺ الى اليمن قال لا تمس القران الا وانت طاهر﴾ (چې مه مس كوه قرآن مګر دا چې ته پاک يې)

ف: كه حائضه ښځه له يوه ايت ځخه كم دقرأة په نيت نه بلكه دددعاء او شكر په نيت سره وايي نو دا جائز دى لكه دخوراک په وخت كې بسم الله يا الحمد لله ويل ولى چې په دې وخت كې دا ذكر دى او حائضه او جنب له ذكر ځخه نه دي منع شوي البته داسې كوم سورة چې په هغه كې ددعاء معنى نه وي لكه سورة ابولهب نو په دې كې ددعاء قصد وغيره مؤثر نه دى لمافى الشامية (قوله بقصده) فلو قرأت الفاتحة على وجه الدعاء او شيئا من الايات التى فيها معنى الدعاء ولم ترد القرأة لاباس به كما قدمناه عن العيون لابى الليث وان مفهومه ان ماليس فيه معنى الدعاء كسورة أبى لهب لا يؤثر فيه قصد غير القرائية (رد المحتار: ۱/۲۱۴)

معلمې(ښوونکې) حائضې لره دتلاوت حکم

ف: کوچنیانوته دقرآن کریم تعلیم ورکونکې معلمه که دحیض په حالت کې وه نو هغه دتعلیم په نیت سره ایت په کلمه کلمه کولو سره ویلی شي لکه الحمد.....لله.....رب العلمین .لمافي الهندية :واذاحاضت المعلمة فينبغي لهاان تعلم الصبيان كلمة كلمة وتقطع بين الكلمتين ولايكره لهاالتهجي بالقرآن(هنديه:۳۸/۱)

(۱۴۹)دمحدث (بې اودسه)لپاره دقرآن کریم بغیرله جامومس کول جائزنه دی له جاموسره مس کول جائزدي په دې شرط چې جامه له مصحف څخه جلاوي که متصله وه بیاجائزنه دی ،همداشان درهم ،لرګی وغیره چې پرهغه دقرآن کریم ایت لیکل شوی وي نودهغه مس کول هم جائز نه دي(لقوله ﷺ لايمس القرآن الاطاهر)(چې نه دي مس کوي قرآن مګرپاک) مګرله همیانی سره دهغه مس کول جائز دی یعنی که داسې درهم په همیانی کې وو نودهغې مس کول جائزدی.

(۱۵۰)قوله ومنعهماالجنابة والنفاس اى ومنع المس والقرأةالجنابة والنفاس ،یعنی دجنابت حال اودنفاس حال دقرآن کریم له مس کولو اوویلودواړوڅخه مانع دی یعنی جنب اونفاسه ښځه نه قرآن ویلی شي اونه لاس وروړلی شي ولی چې حدث اوجنابت ددوئ په لاسوکې هم حلول کړی دی لهذادواړولره قرآن مجیدته لاس وروړل منع دي اوځکه چې جنابت اونفاس په خوله کې هم حلول کړی دی لهذاجنبی اونفاسه ښځه قرآن مجیدویلی هم نه شي .

ف: دقرآنی ایتونوکیسټ ته بې له اودسه په لاس وروړلوکې څه حرج نشته ولی چې په کیسټ کې قرآنی ایتونه لیکل شوي نه دي زیات ترزیات په هغه کې دقران کریم اوازدی اودقرانی اوازله جسم سره دمس کیدلولپاره طهارت ضروري نه دی که نه نو دجنبی لپاره به دقرآن کریم اوریدل جائزنه وای ،لیکن دقرآن کریم داحترام تقاضاداده چې دې کیسټې ته هم بې اودسه لاس ورنه وړل شي .

ف: لکه ځرنګه چې جنب ،حائضې اونفاسې ښځې ته دقرآن کریم تلاوت صحیح نه دی همداشان ددوئ لپاره دقرآن کریم لیکل هم صحیح نه ده که څه هم دټیپ رائټر اوکمپوټرپه ذریعه سره وي البته بې اودسه شخص په دې جدیدو ذریعوسره دقرآن کریم کتابت کولی شي په دې شرط چې دقران له ایتونوسره یې لاس ونه لګیږي .(فتاوی حقانیه:۲/۵۶۶).

(۱۵۱)وَتُوطَأُبِلاغُسلٍ بِتَصَرُّمِ لأَكثَرِه(۱۵۲)وَلأَقَلِّهِ لاَحَتّى تَغتَسِلَ(۱۵۳)اَويَمضِيَ عَلَيهَاأَدنى وَقتِ صَلاةٍ

ترجمه: اووطی کیدلای شي بې له غسله داکثرمدي په تیریدلوسره ،اودلږي مدي په تیریدلوسره نشي کیدلای ترڅوچې غسل وکړي ،یاتیرشي پرهغې باندې ادنی وخت دلمانځه .

تشریح: (۱۵۱)که داکثرمدې دحیض یعنی لس ورځوپه تیریدلوسره وینه منقطع شوه نوله غسل کولوڅخه مخکې له دې حائضې ښځې سره وطی کول جائز دی ولی چې حیض له لسوورځوڅخه زیات نشي کیدلای البته له غسل کولوڅخه مخکې وطی نه کول مستحب دی .

ف: تصرم دانقطاع په معنی دی یعنی داکثرمدې په تیریدلوسره چې دکومې ښځې وینه منقطع شي نوله هغې سره وطی کول جائزده مګرپه دې عبارت داعتراض شوی دی چې داکثرمدې په تیریدلوسره مطلقاوطی جائزده که وینه منقطع شي اوکه یاولی چې له اکثرمدې وروسته راتلونکې وینه حیض نه ده بلکه

استحاضه ده کوم چې دوطی مانع نه ده ؟هوداویل کیدای شي چې مصنف رحمه الله داد عام عادت مطابق ویلي دي ځکه چې داشاذاونادرپیښیږي چې له اکثرمدي تیریدلوسره وینه منقطع نه شي .

ف: دلاکثره لام دبعدپه معنی دی کمافی قوله تعالی﴿ أقم الصلاة لدلوک الشمس ﴾ ای بعددلوک الشمس وقال ﷺ ﴿صوموا لرؤيته ای بعدرؤيته﴾.

(۱۵۲)قوله ولاقله لاحتی تغتسل ای وبانقطاع دمهالاقل الحیض لاتوطاحتی تغتسل،یعنی که دحائضې ښځې وینه په کمه مده دحیض یعنی دریوورځومنقطع شوه اوددې ښځې عادت هم همداوو چې په دریوورځوددې وینه بندیدله نوله دې سره وطی جائزه نه ده ترڅوچې غسل وکړي ولی چې وینه کله جاری وي کله منقطعه نودانقطاع جهت ته دترجیح ورکولولپاره غسل کول ضروري دی .

(۱۵۳)قوله اویمضی علیهاادنی وقت صلوة ای وبانقطاع دمهالاقل الحیض لاتوطاحتی یمضی علیهاادنی وقت صلوة ،یعنی که ښځې دوینه له انقطاع وروسته غسل خوونه کړ البته پردې دکامل لمانځه (له کامل لمانځه څخه مرادپنځه وخته لمونځ دی په دې سره احترازدی دځانبت اواخترله لمانځه څخه حتی که کومه ښځه داخترد لمانځه پروخت پاکه شي نودې لره دماپښین دلمانځه دوخت تیریدلوپوري انتظارکول ضروري دی)ادنی وخت تیرشي یعنی دومره وخت تیرشي چې داپه دې وخت کې په تیزی اوتلوارسره غسل کولی شی اوجامی اغوستلی شي اوتحریمه کولی شي نوهم له دې سره وطی کول جائزده ولی چې لمونځ ددې پرذمه قرض شولهذاداښځه پاکه ګڼل کیږي ځکه چې کله شریعت پردې دلمانځه دواجبید وحکم وکړاوحال داچې دحیض په حالت کې لمونځ صحیح نه دی نودادلیل دی چې شریعت ددې دپاکوالی حکم کړی دی.

دطهر متخلل بیان

(۱۵۴)وَالطُّهرُ الْمُتَخَلِّلُ بين الدَّمَيْنِ فِي الْمُدَّةِ حَيضٌ وَنِفاسٌ (۱۵۵)وَأَقَلُّ الطُّهرِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا وَلَا حَدَّ لِأَكْثَرِهِ (۱۵۶)إلَّا عِنْدَ نَصْبِ الْعَادَةِ فِي زَمَانِ الِاسْتِمْرَارِ .

ترجمه: اوپاکی چې ددوو وینوپه منځ کې راشي دحیض اونفاس په مده کې حیض اونفاس دی ، اودپاکی لږترلږه مده پنځلس ورځې ده اوهیڅ حدنشته دپاکی اکثري مدي لره ،مګردعادة دمقررولی په وخت کې دویني داستمرارپه زمانه کې .

تشریح :(۱۵۴)طهردحیض دوینودانقطاع زماني ته ویل کیږي نوکه طهردحیض یانفاس په مده کې ددووینوپه منځ کې واقع شومثلایوه ورځ یې وینې ولیدلی بیاته ورځې پاکې وه بیایوه ورځ وینه راغله یادنفاس په څینوورځوکې وینه راغله بیابنده شوه بیاراغله نوداپه منځ کې پاکوالی مسلسله وینه ګڼل کیږي ،داله امام ابو حنیفه رحمه الله څخه دطهرمتخلل په باره کې له مروی رواياتوڅخه یوروایت دی وجه یې داده چې دوینودحیض توله مده نیول بالاجماع شرط نه ده نوددې اول اواخیرشمارل کیږي لکه دزکوة په باب کې چې دنصاب حکم دی .

ف :دامام محمد رحمه الله مذهب دادی چې که طهرمتخلل تردریوورځوکم نوپه هیڅ صورت کې هم فاصل نه ګڼل کیږي اوکه دری ورځې وو نوکه ددواړوطرفونوله وینې سره برابریاکم وو نوهم فاصل ګڼل کیږي اوکه

دوا‌ړو طرفونو له وینې څخه زیات وو نو فاصل ګڼل کیږي ،دامام ابویوسف رحمه الله څخه روایت دی چې دوا‌ړو وینو ترمنځ که طهر تر پنځلس ورځې کم وو نو دا طهر فاصل نه ګڼل کیږي بلکه دطهر په ورځو کې به هم حیض ګڼل کیږي ولې چې دا طهر فاسد دی لهذا به دجاری وینې په مرتبه کې وي ددې قول اختیارول ډیر اسانه دي دیرو متأخرینو پردې قول فتوی ورکړې ده ولې چې دادمفتی او مستفتی دوا‌ړو لپاره اسانه دی اواله امام ابوحنیفه رحمه الله څخه یوروایت هم دی اوویل شوي دي چې دامام صاحب رحمه الله اخري قول هم همدا دی لمافی فتح القدیر :وروی ابویوسف عنه وبه اخذان الطهر اذا کان اقل من خمسة عشر لایفصل وقیل هو آخر اقوال ابی حنیفه وعلیه الفتوی(فتح القدیر:۱/۱۵۳)

(۱۵۵)د دومستقلو حیضو په منځ کې دطهر فاصل کمه موده پنځلس ورځې او پنځلس شپې دي ولې چې دطهر کمه موده داقامت دمدې په شان ده لهذا لکه څرنګه چې داقامت اقله موده پنځلس ورځې ده همدا شان به دطهر اقله موده هم پنځلس ورځې وي ولې چې طهر او اقامت هریو په لمانځه او روژې کې مؤثر دی په همدې وجه دسفر په اقله موده په قیاس لو سره دحیض کمه موده درې ورځې مقرره شوې ده.

ف :داچې پورته بیان شوه دا ددو حیضو په منځ کې دطهر اقل موده وه پاته شوه ددو ونفاسو په منځ کې اقل موده طهر نو هغه شپږ میاشتې ده لهذا دیوه ماشوم له پیدا کیدو څخه وروسته که تر شپږو میاشتو په کم وخت کې بل ماشوم پیدا شو نو دادواړه به توأمین (غبرګولي) ګڼل کیږي.

(۱۵۶)دطهر داکثر مودې لپاره کوم حد نه دی مقرر شوی په دې وجه چې کله داسې وي چې ښځې ته په ټول ژوند کې حیض نه ورځي البته یوصورت مستثنی دی هغه داچې کله کومه ښځه مستحاضه شي نو دضرورت له امله به ددې لپاره دطهر موده مقرریږي.

ف :دادرې صورته لري (۱)چې ښځه له بلوغ سره مستحاضه شي نو ددې حکم دادی چې په هره میاشت کې لس ورځې دحیض دی اولس ورځې دطهر(۲)اوکه له بلوغ څخه وروسته څه وخت هغه روغه وه اوبیا دا استحاضې په مرض اخته شوه نو که ددې دحیض عادت معلوم وو مثلاً مخکنی عادت یې داوو چې په هره میاشت کې به دې ته لس ورځې وینه ورتله نو اوس به په میاشت کې ددې دعادت اته ورځې حیض ګڼل کیږي او پاتې دوه ویشت ورځې به طهروي(۳)اوکه ددې مخکنی عادت وو مګر دهغه ابتداء او نتهاء له دې څخه هیره وه نو دا به تحری کوي دکوموورځو په باره کې چې ددې غالب ګمان داوو چې دادحیض ورځې دي نو هغه به دحیض ورځې ګڼل کیږي اودکوموورځو په باره کې چې ددې غالب ګمان داوو چې دادطهر ورځې دي نو هغه به دطهر ورځې ګڼل کیږي ولې چې غالب ګمان هم له ادله شرعیه و څخه ده .(دزیات تفصیل لپاره وګورئ شامی :۱/۲۱۰)

داستحاضه بیان

(۱۵۷)ودم الاستحاضة کرعاف دائم لایمنع صوماولاصلوةووطیا(۱۵۸)وَلَوْزَادَالدَّمُ علی أَکْثَرِ الْحَیْضِ وَالنِّفَاسِ فَمَازَادَعلی عَادَتِهَا استحاضة

ترجمه:او د استحاضه وينې د پوزې د دائمې وينو په شان دي مانع نه دي روژې او لمانځه او نزديکت لره . او که زياتې شوې وينې د حيض او نفاس له اکثري مدې څخه نو کومې چې ددې له عادت څخه زياتې دې هغه استحاضه دې .

تشريح:(۱۵۷)د استحاضې وينه د پوزې د هميشنې وينې په حکم کې دى نو د پوزې د وينو په شان د استحاضې وينه هم روژې ، لمانځه او وطې لره مانع نه ده ولې چې نبي کريم ﷺ مستحاضې ښځې ته وفرمايل ﴿توضئ وصلي وان قطرالدم على الحصير﴾(ته د هر لمانځه لپاره اودس کوه او لمونځ کوه که څه هم وينه پرېزى باندې څڅېږي)نو کله چې له دې حديث څخه د لمانځه حکم معلوم شو چې دده لپاره طهارت لازم نه دى نو د روژې او وطى حکم هم معلوم شو ولې چې لمونځ د دوئ په نسبت طهارت ته احوج دى کله چې دده لپاره په دې صورت کې طهارت نه دلازم نو د روژې او وطى لپاره به په طريقه اولى سره لازم نه وي .

(۱۵۸)که د کومې ښځې عادت داوو چې په هره مياشت کې دې ته پنځه ورځې حيض ورتو مگر داځل داسې وشو چې ددې حيض له پنځو ورځو څخه زيات شو او تر اکثري مدې د حيض هم واوښت نو د عادت تو له ورځو څخه زياتې چې څومره ورځې دي هغه ټولې د استحاضې ورځې شمارل کيږي ولې چې له عادت څخه زياتې ورځې د هغو ورځو مجانسې دي کومې چې له لسو ورځو څخه زياتې دي لهذا په حکم کې به هم په هغوئ پسې ملحقې وي او که وينه له عادت څخه زياتې شوې او په لسو ورځو ودريدلې نو دا ټولې حيض شمار کيږي ولې چې اوس به داسې گڼل کيږي چې ددې عادت بدل شو همدا حکم د نفاس هم دى چې که د عادت له ورځو څخه زياتې شوې او د نفاس تر اکثر مدې (يعنې څلويښتو ورځو)څخه هم زياتې شوې نو د عادت له ورځو څخه چې زياتې څومره ورځې دي هغه ټولې د استحاضه وينې گڼل کيږي او که په څلويښتو ورځو ودريدلې نو دا ټولې د نفاس ورځې گڼل کيږي لماقلنا .

(۱۵۹)وَلَوْ مُبْتَدَأَةً فَحَيْضُهَا عَشَرٌ وَنِفَاسُهَا أَرْبَعُونَ

ترجمه :او که ښځه له اول ځل سره استحاضه شوه نو ددې حيض به (هره مياشت)لس ورځې او نفاس به څلويښت ورځې وي .

تشريح :(۱۵۹)قوله ولو مبتداة اى ولو كانت المرأة مبتداة الخ ،يعنې که کومه ښځه له بلوغ سره مستحاضه شوه يعنې د هغې د بلوغ حيض له لسو ورځو څخه زيات شو او مستمر شو نو ددې ښځې حيض په هره مياشت کې (له هغې ورځې چې دې وينه په کې ليدلې)لس ورځې وې نورې شل ورځې به د استحاضه وي ولې چې که په لسو ورځو وينه دريدلې واى نو دا ټولې به حيض وې مگر کله چې له لسو ورځو واوښتې نو په دې کې شبه پيدا شوه چې له دريو ورځو څخه زيات تر لسو ورځو پورې حيض دى که نه دى نو مخکنې يقين په دې شک سره نه زائله کيږي کوم چې اوس پيدا شو ،همدا شان که ښځه پر اولنى ولادت باندې مستحاضه شوه نو ددې نفاس به څلويښت ورځې وې ولې چې که په څلويښتو ورځو وينه دريدلې واى نو دا به ټولې نفاس وې مگر کله چې له څلويښتو ورځو زياتې شوې نو تر څلويښتو ورځو په کمو کې شبه پيدا شوه چې نفاس دى که نه دى نو مخکنې د څلويښتو ورځو يقين په دې شک سره نه زائليږي کوم چې اوس پيدا شو .

(۱۶۰) وَتَتَوَضَّأُ الْمُسْتَحَاضَةُ وَمَنْ بِهِ سَلَسُ الْبَوْلِ أَوِ اسْتِطْلَاقُ بَطْنٍ أَوِ انْفِلَاتُ رِيحٍ أَوْ رُعَافٌ دَائِمٌ أَوْ جُرْحٌ لَا يَرْقَأُ لِوَقْتِ كُلِّ فَرْضٍ وَيُصَلُّونَ بِهِ فَرْضًا وَنَفْلًا (۱۶۱) وَيَبْطُلُ بِخُرُوجِهِ فَقَطْ (۱۶۲) وَهَذَا إِذَا لَمْ يَمْضِ عَلَيْهِ وَقْتُ فَرْضٍ إِلَّا وَذَلِكَ الْحَدَثُ يُوجَدُ فِيهِ

ترجمه :او اودس به کوي مستحاضه او دچا چې سلس البول ناجوړي وي یا چې دچانس جاري وي یا دهوا دخروج ناجوړي وي یا یې همیشه پوزه وینه کوي چې نه بندیږي هر فرض لمانځه وخت ته او لمونځ دې کوي په هغې او داسره فرض او نفل، او باطلیږي صرف دوخت په وتلو سره ،او دا هغه وخت دی چې نه تیریږي دلمانځه وخت مګر دا بې اودسې پیښیږي په هغه کې .

تشریح :(۱۶۰)مستحاضه ښځه او دچا چې دسلس البول(دچا چې بولې جاري وي)ناروغې وي یا دچانس ایله وي یا یې هوا خارجیږي یا یې همیشه له پوزې وینه څي یا داسې زخم وي چې وینه یې نه دریږي نو ددې ټولو لپاره حکم دادی چې دهر فرض لمانځه دوخت لپاره به اودس کوي بیا پر دغه اوداسه په وخت کې دننه چې څومره یې خوښه وي لمونځ دې کوي هغه لمونځونه که فرض وي که واجب که نفل اوکه اداء وي اوکه قضاوي کله چې وخت ووځي نو ددې معذورو اودس باطلیږي لهذا که یې اوس بل فرض لمونځ کوی نو دهغه لپاره نوی اودس کول ضروري دی لقوله ﷺ ﴿المستحاضة تتوضأ لوقت كل صلوة﴾ (یعنی مستحاضه دې دهر لمانځه دوخت لپاره اودس کوي).

ف :مذکوره بالامسلک داحنافو دی دامام شافعي رحمه الله په نزد فرض یوا ونفلونو څومره چې یې خوښه وي اداء کولی شي ولی چې نبی کریم ﷺ فاطمة بنت ابی حبیش رضی الله عنها ته وفرمایل ﴿توضئي لكل صلوة﴾ (ته اودس کوه هر لمانځه ته)،احناف ځواب ورکوي چې لام دوقت په معنی کې هم استعمالیږي لهذا دا احتمال شته چې لكل صلوة په معنی دلوقت کل صلوة وي ،په دې دول سره دا راویت محتمل دی حال دا چې داحنافو روایت محکم دی ،دامام مالک رحمه الله په نزد فقط یو فرض او یو نفل اداء کولی شي .

دمعذور داحکامو بیان

ف:دمعذور دجامو په باره کې اختلاف دی دځینو حضراتو رأیه داده چې معذور به جامې هرلمانځه ته پریمنځي او ځینې وایي چې دجامې پریمنځل لازم نه دي .مګر مفتی به قول دادی چې که هغه په دې دول معذور وو چې له جامو پریمنځلو څخه وروسته له لمانځه څخه ترفارغیدلو وړاندې دده جامې بیرته مردارېدلی نو دجامو پریمنځل لازم نه دي که نه نو لازم دي .

(۱۶۱)دفقهاؤ په دې کې اختلاف دی چې دصاحب عذر اودس دوخت په وتلو سره باطلیږي اوکه دبل وخت په شروع کیدلو سره، دطرفینو قول دادی چې دوخت په وتلو باطلیږي دوخت په داخلیدلو نه باطلیږي ولی چې شارع دکل وخت په لمانځه دمشغولولو اجازه کړې ده نوله وخت څخه وړاندې دطهارت له حاصلولو بغیر دکل وخت په لمانځه سره مشغولول ممکن نه دي په دې وجه له وخت څخه وړاندې اودس جائزدی اوله وخت څخه وړاندې داودس جوازدې خبرې ته مستلزم دی چې دخول وخت ناقض نه دی ،او خروج وخت ځکه چې دزوال حاجت دلیل دی لهذا په خروج وخت سره اودس ماتیږي، امام ابویوسف

ﷺ فرمايي چې دوخت په وتلواو داخليدلوهريوه سره باطليږي ولې چې دطهارت حاجت په وخت پورې منحصردی لهذا نه له وخت څخه وړاندي اونه وروسته معتبر دی .دامام زفر رحمه الله په نزد دبل وخت په شروع كيدلوسره باطليږي،ددې اختلاف ثمره په دې مسئله كې ښكاريږي مثلاكوم صاحب عذردسهارلمونځ په اوداسه اداء كړنودائمه ثلاثه په نزدپه دې اوداسه دڅاښت لمونځ كولی نه شي كولی پرهمدې فتوی ده ولې چې دسهاردوخت په وتلوسره دده اودس باطليږي ،دامام زفر رحمه الله په نزددڅاښت لمونځ كولی شي ولې چې دده په نزدپه بل فرضي وخت باندې اودس باطليږي كوم چې تراوسه نه دی شروع شوی .

ف:همداشان كه چادڅاښت دلمانځه لپاره اوس وكړنودطرفينوپه نزدپه دې اوداسه دماپښين لمونځ كولی شي اودامام زفر رحمه الله په نزديې نه شي كولی ،همدادامام ابويوسف رحمه الله قول دی ،دطرفينوقول صحيح دی لمافی شرح التنوير:والفادانه لوتوضاءبعدالطلوع ولولعيداوضحی لم يبطل الابخروج وقت الظهر(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲۲۳/۱)

(۱۶۲)دمعذورينولپاره داحكم هغه وخت دی چې كله پردوئ دكوم فرض لمانځه وخت داسې نه تيريږي چې په كوم حدث دوئ مبتلادي هغه حدث په دې وخت كې موجودنه شي داانقطاع عذرلپاره شرط دی .پاتې شودثبوت عذرلپاره شرط داد ی چې په ټول وخت كې ده ته دومره موقع په لاس ورنه شي چې په هغه كې دی اودس وكړي اولمونځ اداء كړي اوده ته داحدث پيښ نه شي ولې چې په همداسې عذرسره ضرورت متحقق كيږي .

ف:نوكه چاته په وسط وخت كې عذرپيښ شومثلاله زخم څخه وينه بهيدل شروع شواوده ددې وخت لمونځ نه وي اداء كړی نوهغه دې داخري وخت انتظاروكړي نوكه په اخيري وخت كې هم داعذرمنقطع نه شونودی له خروج وخت څخه وړاندې اودس وكړي اولمونځ دې اداء كړي بياچې كله بل وخت داخل شي نوكه دده داعذرمنقطع شوبيرته نه راوګرځيدونوداكس دې اودس وكړي اودتيرشوي وخت لمونځ (كوم چې ده له عذرسره اداء كړی وو)دې اعاده كړي ولې چې كامل وخت دده دعذردنه پاتې كيدلوپه وجه سره معلومه شوه چې ده بلاعذردمعذوروخلكوپه څيرلمونځ اداء كړی دی لمافی الشامية:ولوعرض بعددخول وقت فرض انتظرالی آخره فان لم ينقطع يتوضا ويصلی ثم ان انقطع فی اثناء الوقت الثانی يعيدتلك الصلوة وان استوعب الوقت الثانی لايعيد(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲۲۳/۱)

ف:حتی الامكان دعذردفع كول ياكمول واجب دي مثلاكه كوم كس په ناسته لمونځ اداء كوي نودده معذوري منقطع كيږي اوكه يې په ولاړه اداء كوي نودده عذري جاري پاتې كيږي نوپرداسې كس واجب دی چې په ناسته لمونځ اداء كړي لمافی شرح التنوير:يجب ردعذره اوتقليله بقدرقدرته ولوبصلوته موميا(ردالمحتار:۲۲۵/۱)

په هسپتال كې دجامودطهارت بيان

ف:په هسپتال كې دبدن اوجامې طهارت كله خوپه يقيني دول نه وي اوكه مشتبه وي ،كه جامې بدلې كړي بيرته نجسې كيږي يانجسې كيږي خونه البته دجاموپه بدلولوكې ده ته مشقت وي نوپه داسې صورت كې

ددې قسم مرض مريض لره په همدې حالت کې لمونځ اداء کول په کار دي لمافي الشامية :مريض تحته ثياب نجسة وكلما بسط شيئا تنجس من ساعته صلى على حاله وكذا لو لم يتنجس الثاني الا انه يزداد مرضه له ان يصلي فيه (ردالمحتار: ١/٢٢٣)

دنفاس بيان

(١٦٣)وَالنِّفَاسُ دَمٌ يَعْقُبُ الْوَلَدَ(١٦٤)وَدَمُ الْحَامِلِ اسْتِحَاضَةٌ(١٦٥)وَالسِّقْطُ إِنْ ظَهَرَ بَعْضُ خَلْقِهِ وَلَدٌ(١٦٦)وَلَا حَدَّ لِأَقَلِّهِ(١٦٧)وَأَكْثَرُهُ أَرْبَعُونَ يَوْمًا وَالزَّائِدُ اسْتِحَاضَةٌ

ترجمه: اونفاس هغه وينه ده کومه چې دماشوم له زيږيدلو وروسته راځي ،اودحاملې وينه استحاضه ده ،اودناتمام ماشوم که ښکاره شوي وي بعض اجزاء نودکامل ماشوم په حکم کې دی ،اوهيڅ حدنشته دلږنفاس لپاره ،اواکثره مده يې څلويښت ورځې دي بزائد استحاضه ده .

تشريح: (١٦٣)نفاس، لتنفس الرحم بالدم(درحم په وينه ساه واخيسته)څخه مشتق دی يا له خروج النفس په معنی دولد څخه مشتق دی اوپه اصطلاح کې نفاس هغه وينه ده کومه چې له ولادت څخه وروسته راوځي .

(١٦٤)حامله ښځې که په حالت حمل کې وينه وليدله ياپه حالت ولادت کې دماشوم له پيدا کيدلو څخه وړاندې وينه وليدله نوداوينه استحاضه ده که څه هم دحيض په مقدار وينه ووينې ولې چې دحيض اونفاس وينه له رحم څخه راځي اودرحم وينه له حامله ښځې څخه ممکنه نه ده ولې چې دحمل په وجه درحم خوله بنديږي نوپه حالت حمل کې وينه درحم له وينې څخه علاوه ده اودرحم له علاوه څخه چې کومه وينه راځي هغه استحاضه ده په دې وجه داوينه استحاضه ده .دامام شافعي رحمه الله په نزدداوينه حيض ده په دې شرط چې په هغه ورځوکې راوتلې وي په کوموکې چې دې ته دحيض دراتلوعادت وي ولې چې داحيض په زمانه کې له رحم څخه راوتونکې وينه ده لهذاحيض دی .

(١٦٥)هغه ناتمام ماشوم دکوم چې بعض خلقت ظاهروي مثلاً گوته ،پښې اوويښتان وغيره هغه دولدتام په حکم کې دی يعنی دده په وجه سره ښځه نفاس والاجوړيږي لهذاکه ښځه مينځه وي اوددې مولی له دې سره وطی کړې وي نوداامينځه دمولی ام ولده گرځي اوکه ښځه مطلقه وي نودې په وجه عدت ختميږي .اوکه دماشوم اعضاء نه وي ظاهرشوي نوله دې څخه وروسته چې کومه وينه راځي هغه نفاس نه دی ،عموماًدماشوم اعضاء له علوق څخه په يوسل اوشلوورځوکې ظاهريږي ،داعضاء له ظاهريدلو څخه مرادنفخ روح ده که نه نو اعضاء خوديرله وړاندې لاظاهريږي .

ف:که ماشوم په داسې حال وزيږيد چې اعضاء يې بالکل نه ووښکاره شوي نوپردې دنفاس والااحکام نه جاري کيږي، اوبهيدونکې وينه حيض شمارل کيږي په دې شرط چې دوه خبرې موجودوي ،لړترلږه به داوينه دريو ورځوپورې جاري وي،اوله دې څخه وړاندې به يې طهرکامل تيرکړی وي (يعنی له دې څخه وړاندې به ښځه لږترلږه پنځلس ورځې پاکه پاتې شوې وي)که دادوه خبرې نه وي يا له دوی څخه يوه نه وه نوبهيدونکې وينه حيض نه بلکه استحاضه شمارل کيږي لمافي الدرالمختار:فان لم يظهر له شيء فليس بشيء والمرئي حيض ان دام ثلاثا وتقدمه طهر تام والا استحاضة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار: ١/٢٢١)

(۱۶۶)قوله ولاحدلاقله اى لاحدلاقل النفاس ،ائمه ثلاثه او اكثر اهل علم پر دي متفق دي چې دنفاس داقل مدت څه حد نشته نو كه دښځې ماشوم وزېږيدى اويو ساعت وينه راغله اوبيا ودريده نو دا ښځه پاكه شوه اوس به روژه هم نيسي اولمونځ به هم اداء كوي ولې چې دماشوم زېږيدنه ددي دليل دى چې داوينه له رحم څخه راغلې ده اودماشوم له زېږيدنې څخه وروسته چې كومه وينه له رحم څخه راځي هغه ته نفاس ويل كيږي لهذا اوس دكوم امتدادي علامې ضرورت نشته په خلاف دحيض چې په هغه لږترلږه تردريو ورځو پورې دوينې جاري والى شرط دى ترڅو ددي وينې له رحم څخه راتلل معلوم شي ولې چې ددي په حيض والى باندي بل كوم علامت نشته.

ف:كه دكومې ښځې دنفاس وينه له ولادت څخه وروسته څو ساعته يا له يوې ورځې څخه وروسته بنده شوه نو اوس په دي ښځې غسل كول اولمونځ اداء كول اوروژه نيول واجب دي ،دځينو ښځو وينه له څلويښتو ورځو څخه وړاندي بنديږي بيا هم هغوئ ترڅلويښتو ورځو پورې لمونځ نه كوي داسې كول ګناه كبيره ده په داسې ښځه لازم ده چې په كومه ورځ ددي وينه ودريږي له هغې څخه دوروسته ورځو دلمونځونو قضاء اودروژې قضاء دي راوړي لماقال العلامة عبدالحي اللكنهوى: واقل النفاس لاحدله وعليه اتفق اصحابنا فلو انقطع دم النفاس بعد الولادة ساعة يجب عليها ان تصوم وتصلى بعد الاغتسال صرح بذالک شيخ الاسلام فى مبسوطه فمالتعارف فى زماننا هذا من ان النساء لاتؤدين الفرائض الابعد انقضاء اربعين يوما وان انقطع الدم قبله ذنب كبير (هامش الهداية: ۱/۶۸)

(۱۶۷)قوله واكثره اربعون يوما اى اكثر النفاس اربعون يوما ،دنفاس په اكثره مده كې اختلاف دى زمونږ په نزد څلويښت ورځې دي له دي څخه زائد چې كومه وينه ده هغه استحاضه ده لحديث ام سلمة رضي الله عنها ان النبي ﷺ وقت للنفساء اربعين يوما (يعنى نبى كريم ﷺ دنفاس والوته څلويښت ورځې مقرري كړي)،دامام شافعى رحمه الله په نزد اكثر مدت نفاس شپيته ورځې دي همدا قول دامام مالک رحمه الله هم دى مګر مذكوره بالاحديث پر دوئ حجت دى.

(۱۶۸)ونفاس التوأمين من الأول

ترجمه :اونفاس دغبركوليانو ماشومانو په زېږيدلو سره په اول سره شروع كيږي.

تشريح :(۱۶۸)كه دكومې ښځې په يوه نس كې دوه ماشومان وزېږيدل يعنى ددوارو دولادت په منځ كې له شپږو مياشتو څخه لږ وخت وو نو دشيخينو په نزد ددي دنفاس ابتداء داول ماشوم له پيدا كيدلو څخه ده .دامام محمد رحمه الله اوامام زفر رحمه الله په نزدددوهم ماشوم له پيدا كيدلو څخه دنفاس ابتداء ده ،دامام محمد رحمه الله دليل دادى چې له اول ماشوم پيدا كيدلو څخه وروسته هم ښځه حامله ده اوحاملې ښځې ته دحيض په څېر نفاس هم نه ورځي همدا وجه ده چې كه دا ښځه متعده وي نو ددي عدت ددوهم ماشوم په زېږيدلو سره ختميږي ،دشيخينو دليل دادى چې حاملې ته په دي وجه وينه نه ورځي چې ددي درحم خوله بنده وي ليكن كله چې دماشوم په پيدا كيدلو سره درحم خوله خلاصه شوه اووينه راووتله نو يقينا به دا نفاس وي ولې چې له ولادت څخه وروسته راوتونكې وينې ته نفاس ويل كيږي ،پاتې شو دعدت تيريدنه هغه په دوهم ماشوم په دي وجه ختميږي چې عدت په وضع حمل پورې معلق دى اوحمل كل مافى البطن ته ويل كيږي لهذا كل مافى البطن وضع كولو څخه وړاندي عدت نه ختميږي.

ف :راجع او مفتی به قول دشیخینو دی لمافی الشامیة:(قوله من الاول) والمرئی عقیب الثانی ان کان فی الاربعین فمن نفاس الاول والافاستحاضة وقیل اذاکان بینهمااربعون یجب علیهاالقاس من الثانی والصحیح هوالاول وماذکر المصنف هوقولهما (ردالمحتار: ۱/۲۲۱) هکذافی مجمع الانهر: ۱/۸۳)

بَابُ الْأَنْجَاسِ

دا باب دنجاستونو په بیان کې دی

انجاس دنجس جمع ده او نجس بفتح النون وکسر الجیم دطاهر ضد دی ،او نجاست دطهارت ضد دی ، نجس له خبث څخه عام دی دکوم چې اطلاق پر حقیقي نجاست کیږي او له حدث څخه هم عام دی دکوم چې اطلاق پر حکمي نجاست کیږي غرض دا چې دنجس اطلاق پر حقیقي او حکمي دواړو کیږي.

کله چې مصنف رحمه الله دنجاست حکمي او دهغه دتطهیر له احکامو څخه فارغ شو نو دنجاست حقیقي او دهغه تقسیم او دهغه مقدا عفوا و دهغه دمحل دتطهیر بیان یې شروع کړ ،او نجاست حکمي ځکه چې له نجاست حقیقي څخه اقوی دی په دې وجه یې دنجاست حکمي احکام مقدم ذکر کړل ، او نجاست حکمي اقوی په دې وجه دی چې دنجاست حکمي قلیل مقدار هم جواز صلوة لره مانع دی حال دا چې دنجاست حقیقي قلیل مقدار جواز صلوة لره مانع نه دی.

(۱۶۹) يَطْهُرُ الْبَدَنُ وَالثَّوْبُ بِالْمَاءِ وَبِمَائِعٍ مُزِيلٍ كَالْخَلِّ وَمَاءِ الْوَرْدِ (۱۷۰) لَا الدُّهْنِ (۱۷۱) وَالْخُفُّ بِالدَّلْكِ بِنَجَسٍ ذِي جِرْمٍ وَإِلَّا يُغْسَلُ (۱۷۲) وَيَمْنِي آدَمِيٍّ يَابِسٍ بِالْفَرْكِ وَإِلَّا يُغْسَلُ (۱۷۳) وَنَحْوُ السَّيْفِ بِالْمَسْحِ (۱۷۴) وَالْأَرْضُ بِالْيُبْسِ وَذَهَابِ الْأَثَرِ لِلصَّلَاةِ لَا لِلتَّيَمُّمِ

ترجمه :پاکیږي بدن او جامه په اوبو سره او پر هر بهیدونکی شی سره لکه سرکه او عرق گلاب ،نه په تیلو سره ،او موزه په مښلو سره په جسم لرونکې نجاست کې که نه نو پرېمنځل کیږي به ،او وچ منی په گرولو سره که نه نو پرېمنځل کیږي به، او دتورې په شان شیان په مښلو سره ،او ځمکه په وچیدلو سره او دنجاست داثر په لیرې کیدلو سره دلمانځه لپاره نه دتیمم لپاره .

تشریح :(۱۶۹)دنجاست حقیقي په کوموشیانوسره زائلول جائزدی په دې کې اختلاف دی دشیخینو په نزد په اوبو اوهر داسې شي سره دنجاست زائلول جائزدی کوم چې بهیدونکی اوپاک وي اوپه هغه سره دنجاست زائلول ممکن هم وي (یعنی په نښتیځلوسره نښتیځل کیږي)لکه سرکه ،دگلاب اوبه اوماء مستعمل وغیره .

دامام محمد رحمه الله امام زفر رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد له اوبو څخه ماسوا په نورو شیانو سره پاکي حاصلول جائزنه ده ددوئ دلیل دادی چې پاکونکی شی له نجاست سره په یوځای کیدلو په اول ملاقات کې ناپاک گرځي اوکوم شی چې په خپله ناپاک وي هغه بل شی نه شي پاکولی دقیاس تقاضا خو داده چې اوبه هم مفید طهارت نه شي لیکن دضرورت په وجه سره په اوبو کې قیاس متروک دی په دې وجه اوبه مفید طهارت دي اوله اوبو څخه ماسوا کوم بل شی مفید طهارت نه دی.

دشیخینو دلیل دادی چې بهیدونکی شی نجاست له بیخه په ایستلوسره لیري کوي اوپه اوبو کې هم دپاکوالی صفت په همدي وجه دی چې هغه نجاست لیري کوي نوکله چې دامعنی په نورو بهیدونکو شیانو کې موجوده ده نو داوبو په شان هغوئ هم پاکونکې دي .

ف:دشیخینو قول راجح دی لیکن داوبو په موجودوالی کې په نورمائعو شیانو بسره نجاست لیري کول مکروه دی لمافی شرح التنویر:(یجوزرفع نجاسة حقیقیة عن محلها)ولواناء اوماکولاعلم محلهااولا(بماء ولومستعملا)به یفتی (وبکل مائع طاهرقالع)للنجاسةینعصربالعصر،قال ابن عابدین (تنبیه) صرح فی الحلیة فی بحث الاستنجاء بالتکره ازالةالنجاسةبالمائع المذکورلمافیه من اضاعةالمال عندعدم الضرورة(الدرالمختارمع ردالمحتار: ۱/۲۲)

ف:چاپرخپله جامه نجاست ولیدی اودی په دي نه ووخبرچې دانجاست له څه وخته لګیدلی دی نوداامام ابوحنیفه دقول مختارمطابق پرده له دي لمانځه څخه علاوه په کوم کې چې دی اوس شروع دی دکوم بل لمانځه اعاده لازمه نه ده لمافی الشامیة:اذرأی علی ثوبه نجاسة ولایدری متی اصابته ففیه تقاسیم واختلافات والمختارعندابی حنیفه انه لایعیدالاالصلوةالتی هوفیها(ردالمحتار: ۱/۲۳۰)

ف:که چاته دامعلومه وي چې زماددي جامې یوطرف نجس دی مګرپه نجس طرف کې دده شک وي نوداکس دي احتیاطاخپله داجامه ټوله پریمینځې ولی چې نجس طرف نه یقینامعلوم دی نه ظنالهذاکوم یوه طرف ته ترجیح نه شي ورکولی لمافی الشامیة :والقول بغسل الکل وعلیه مشی فی الظهیریة ومنیة المفتی واختاره فی البدائع احتیاطاقال لان موضع النجاسة غیرمعلوم ولیس البعض اولی من البعض (حوالەسابق)

(۱۷۰)قوله لاالدهن ای لایطهرالبدن والثوب الدهن ،یعنی په تیلواوغوړووغیره سره دبدن اوجامې طهارت نه حاصلیږي په دي وجه چې تیل وغیره که څه هم پاک دي مګرپه نښتیځلوسره نه نښتیځل کیږي بلکه په جامه وغیره کې جذب کیږي په دي وجه په تیلووغیره سره نجاست نه زائلیږي .

(۱۷۱)قوله والخف بالدلک :الخف مرفوع دی پرالبدن معطوف دی ای یطهرالخف بالدلک ،قوله بنجس داله الخف څخه دحال والی په وجه پرمحل دنصب کې دی ای حال کونه متنجسابنجس ذی جرم ، یعنی که پرموزي چپلي وغیره باندي جسم دارنجاست دلګیدولکه ګوبر،پاخانه وغیره بیاوچه شوه بیایې داپرځمکه په مښلوسره صاف کړل نوموزه وغیره پاکیږي اوله دي سره لمونځ جائزدی ولی چې دموزي اوچپلي وغیره په پوست کې دسخت والی په وجه سره دنجاست اجزاء نه شي جذبیدلی مګردیرکم ، بیاجسم لرونکی نجاست چې کله وچ شي نودنجاست جسم هغه کم مقدارهم خپل طرف ته جذب کوي نوکله چې دنجاست جسم زائل شي نوکوم اجزاء چې په هغه پسې قائم دي هغه هم زائلیږي په دي وجه په مښلوسره پاکیږي ،البته نجاست که لوندوي نوپرځمکه په مښلوسره نه پاکیږي بلکه پرمنځل یې ضروري دی ولی چې په مښلوسره نجاست نورهم خپریږي .

ف:امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې جسم لرونکی نجاست مطلقاپه مښلوسره پاکیږي خواه که وچ وي اوکه لوندوي په دي شرط چې اثریې پاتې نه شي ولی چې نبی کریم ﷺ فرمایي چې کوم کس چې مسجدته دداخلیدلواراده وکړي هغه دي خپلوچپلوته وګوري نوکه پردوئ نجاست وونوپرځمکه دي ومو ښي ځمکه دچپلوپاکونکي ده .وجه استدلال داده چې نبی کریم ﷺ دوچ اولانده نجاست ترمنځ فرق نه دی کړی

لهذ د واره قسمه نجاست پر ځمکه په مېنلو سره پاکيږي وعليه الفتوى لمافي الشامية :(قوله بذى جرم)اى وان كان رطاعلى قول الثاني وعليه اكثر المشائخ وهو الاصح المختار وعليه الفتوى لعموم البلوى (ردالمحتار: ۱/۲۲۶)حال داچې دامام محمد رحمه الله په نزدله منى څخه ماسوا که نجاست وچ وي او که لوند وي صرف په پريمنځلو سره پاکيږي مېنل كفايت نه كوي .

قوله والا يغسل اى وان لم تكن النجاسة ذاجرم يغسل ،يعنى كه نجاست جسم لرونکى نه وي لکه بولې وغيره نو هغه به پريمنځل کيږي په دي وجه چې داسې نجاست په مېنلو سره نه پا کيږي بلکه ديرېسي خپريږي .

(۱۷۲)قوله ويمنى اى المتنجس بالمنى اليابس يطهر بالفرک ،قوله والا يغسل اى وان لم يكن المنى يابسا يغسل ،يعنى منى ناپاک دي نجاست غليظه دي نو که وچ شول نو هغه په مېنلو سره صافول کافى دى او که لانده وي نو پريمنځل يې واجب دي ولى چې نبى كريم ﷺ حضرت عائشى رضي الله عنها ته فرمايلي وو ﴿فاغسليه ان كان رطبا وافركيه ان كان يابسا ﴾(يعنى كه منى لانده وي نو هغه وينځه او كه وچ وي نو هغه په مېنلو سره صاف كړه)،همدا راز نبى كريم ﷺ فرمايلي ﴿ إِنَّمَا يُغْسَلُ الثَّوْبُ من خَمْسٍ وَعَدَّ منها الْمَنِيَّ ﴾(يعنى جامه له پنځو شيانو څخه پريمنځل کيږي له هغو پنځو شيانو يې منى هم ذكر كړل).

ف :دعلامه شامى رحمه الله له تحقيق څخه معلوميږي چې منى كه غليظ وي خواه كه د نروي او كه د ښځې نو له وچيدلو وروسته په مېنلو سره داثراتو په زائلولو سره پاکيږي او که رقيق وو نو پريمنځل يې ضروري دي قال حاصله ان كلامهم متضافر على ان الاكتفاء بالفرک فى منى استحسان بالاثر على خلاف القياس فلايلحق به الامالى معناه من كل وجه والنص ورد فى منى الرجل ومنى المراة ليس مثله لرقته وغلظ منى الرجل والفرک انمايؤثر زوال المفرو ک او تقليله و ذالک فيماله جرم والرقيق المائع لايحصل من فركه هذا الفرض فيدخل منى المراة اذاكان غليظا ويخرج منى الرجل اذا كان رقيقا العارض (ردالمحتار: ۱/۲۲۹)وعن محمدانه قال ان كان المنى غليظا فجف يطهر بالفرک وان كان رقيقا لايطهر بالفرک هذا هو اليق بهذا الزمان.

ف :دامام شافعى رحمه الله په نزد منى نجس نه دي دده دليل د حضرت عائشه رضي الله عنها حديث دى ﴿قالت كُنتُ أَفْرُكُ الْمَنِيَّ من ثَوْبِ رسول اللهِ صلى الله عليه وسلم ثُمَّ يُصَلِّي فيه وَلَا يَغْسِلُهُ ﴾ (يعنى ما به د نبى كريم ﷺ له جامو څخه منى مېنل او ده به په هغو کې لمونځ اداء كاوو هغه به يې پريمنځل نه)نو كه منى نجس واى نو نبى كريم ﷺ به لمونځ نه ورسره كاوو ،احناف ځواب وركويى چې كه منى نجس نه واى نو د مېنلو به څه ضرورت وو؟او مېنل هم د تطهير يو طريقه ده لكه چې په روايت كې راځي اذوطى احدكم بنعله الاذى فان التراب له طهورا ،نو لكه څرنګه چې په دي حديث كې له وطى اذى څخه وروسته په حصول طهارت بالتراب سره په طهارت اذى باندي استدلال صحيح نه دى همدا شان دامام شافعى رحمه الله له وړاندي كړل شوي روايت څخه په طهارت منى باندي استدلال صحيح نه دى.

(۱۷۳)قوله ونحو سيف بالمسح اى ويطهر نحو السيف بالمسح ،يعنى نجاست كه په توره ومېنتى نو هغه په مېنلو سره پاكيږي او مراد هر هغه شى دى چې په هغه كې نقوش ،لوړې ژورې او مسامات نه وي لكه اينه ،چاقو ،تازه هډوکى ،او نوكان وغيره چې داسې ټول شيان په مېنلو سره پاكيږي په دي وجه په اوبو سره پريمنځل ضروري نه دي ولى چې ددوئ د ننه نجاست نه داخليږي او كوم چې په ظاهر مونښتي دي هغه په مېنلو سره پاكيږي .

(۱۷۴)قوله والارض بالیبس ای وتطهر الارض بیبس النجاسة علیها،یعنی که پر ځمکه نجاست ولګید وبیا هغه په لمریاګرمۍ وغیره سره وچ شواودنجاست اثر(یعنی رنګ اوبوی)ختم شونوځمکه پاکیږي په دي ځای لمونځ اداء کول جائزدی لیکن په هغه تیمم کول جائزنه دی ولی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي﴿ ایماارض جفت فقدذکت ﴾(یعنی کومه ځمکه چې هم وچه شي هغه پاکه شوه)﴿ وقال ﷺ ذکاة الارض یبسها ﴾(یعنی دځمکې پاکي دهغې وچوالی دی)،اوتیمم په دي وجه نه دی جائزچې دتیمم لپاه دخاوري دپاکوالي شرط په نص کتاب یعنی ﴿ فتیمموا صعیداطیبا ﴾سره ثابت دی اوکوم حکم چې په نص کتاب سره ثابت وي هغه قطعی وي لهذادتیمم لپاره دخاوري دطهارت یقینی والی ضروري دی حال داچې دلته دځمکې طهارت په خبرواحدیعنی ایماارض الخ سره ثابت شوی دی اوکوم حکم چې په خبرواحدسره ثابت شي هغه غیریقینی اوظنی وي ،نوتیمم دکوم لپاره چې دخاوري طهارت قطعی الثبوت دی په هغه خاوره نه ده جائزدکومې چې طهارت ظنی الثبوت وي ،همداراز داوجه هم ده چې دلمانځه لپاره دځمکې پاکوالی شرط دی حال داچې دتیمم لپاره دځمکې طهور(پاکونکي)والی شرط دی اوداځمکه طاهره ده طهوره نه ده .

ف:په فرش کې دلګیدلوخښتو ،وښواودرختوهم همداحکم دی کوم چې دځمکې دی یعنی په وچیدلوسره پاکیږي لماروینا ،لیکن که خښته ،وابنه ،درختې اودخاوري لوټې له ځمکې څخه جلاوي نوپه وچیدلوسره نه پاکیږي ولی چې له مذکورروایت څخه داثابتیږي چې وچ والی دځمکې لپاره پاکې ده حال داچې مذکوره شیان ځمکه نه ده لمافي شرح التنویر:(و)حکم(اجر)ونحوه کلبن(مفروش وخص)بالخاء تحجیرة سطح(وشجرة وکلاقائمین فی ارض کذالک)ای کارض فیطهر بجفاف وکذا کل ماکان ثابتا فیها لاخذه حکمها باتصاله بها فالمنفصل یغسل لاغیر الاحجر خشنا کرحی فکارض (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار: ۱/۲۲۸)

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدمذکوره بالاشیان (په فرش کې لګیدلي خښتې وغیره)صرف په اوبوسره پاکیږي دقیاس تقاضاهم همداده ولی چې اعیان متنجسه دجامې په څیرپه پریمنځلوسره پاکیږي مګردنبی کریم ﷺ دارشاد ذکاة الارض یبسها(یعنی دځمکې پاکي ددي وچوالی دی)په وجه سره قیاس متروک شوی دی.

ف:دپاکي دحاصلولومختلفي ذرائع دي چې له هغوئ څخه یوڅویې دادي (۱)اوبه ،کومې چې دنجاست حقیقي اوحکمي دواړولپاره کفایت کوي .(۲)سیّال (یعنی بهیدونکی)شی ،کوم چې دنجاست حقیقي دلیري کولولپاره کفایت کوئ (۳)خاوره ،کومه چې داوبوپه استعمال دنه قادروالی په صورت کې نجاست حکمي یعنی حدث اوجنابت دلیري کولولپاره کفایت کوي (۴)دباغت ،دداپوستکي دپاکولوذریعه ده (۵)اوبه راکښل ،دادڅاګانودپاکولوطریقه ده (۶)منبل ،داجسم لرونکی نجاست لیري کوي (۷)ګرول، داودچواوختهه منی دلیري کولولپاره داحنافوپه نزدکافی دی(۸)مسح ،داسختواوصیقل شویوشیانو مثلاتوره ،آئینه وغیره څخه دنجاست حقیقي لیري کولولپاره کفایت کوي (۹)په ګرمۍ وغیره سره وچیدل، دادځمکې دپاکولوذریعه ده (۱۰)سوځول ، دځینوشیانوسوځول هم دطهارت ذریعه ده مثلاًدخوښیولپاره سوځول دهغودپاکي ذریعه ده (۱۱)دحقیقت بدلیدل ،مثلاًخنزیر دمالګې په کان کې مالګه جوړه شوه

يا د خنزير له چربي څخه صابن جوړ شو نو د امام محمد رحمه الله په نزد پاک کيږي وهو المختار للفتوى، والتفصيل بما لا مزيد عليه في الدر المختار مع الشامية: ۱/ ۲۳۰)

(۱۷۵) وعفي قدر الدرهم كعرض الكف من نجس مغلظ كالدم والخمر وخرء الدجاج وبول ما لا يؤكل والروث والخثي (۱۷۶) وما دون ربع الثوب من مخفف كبول ما يؤكل والفرس وخرء طير لا يؤكل ودم السمك ولعاب البغل والحمار وبول انتضح كرؤس الإبر

ترجمه: او معاف دى مقدار د درهم د ورغوي د سور په برابر نجاست غليظه لکه وينه، شراب، د چرگې گندگي، بولې د هغو ځناورو چې د هغو غوښه نه خوړل کيږي، ليد او گوبر، او (معاف دى) له څلورمې برخې جامې څخه کم نجاست خفيفه لکه بولې د هغو ځناورو چې د هغو غوښه خوړل کيږي او د آس بولې او د هغه مارغه گندگي چې د هغه غوښه نه خوړل کيږي او د ماهي وينه او ناري د خره او قچرا او هغه بولې کومې چې والوځي دستني د سرونو په برابر.

تشريح: نجاست پر دوه قسمه دى غليظه، او خفيفه، غليظه هغه دى چې د هغه ناپاکي په دليل قطعي سره ثابته وي او د هغې د ناپاکي په باره کې نصوص متعارض نه وي لکه د انسان بولې، گندگي او وينه وغيره وا و خفيفه هغه دى کوم چې داسې نه وي لکه د ماکول اللحم ځناورو بولې دا د امام ابو حنيفه رحمه الله رأيه ده، د صاحبينو په نزد نجاست غليظه هغه دى چې د هغه په ناپاکي فقهاء متفق وي او خفيفه هغه دى چې د هغه په ناپاکي فقهاء متفق نه وي، د امام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دى لما في العناية: والجواب ان اختلاف العلماء لا يخرج النجاسة عن كونها مغلظة لانها لما لم يرد نص بخلافه كان اختلافهم بناء على الرأى وهو لا يعارض النص وكذالك البلوى لا تعتبر في موضع النص (العناية: ۱/ ۱۸۱)

(**۱۷۵**) که نجاست غليظه لکه بهيدونکې وينه، شراب، د چرگې گندگي، د غير ماکول اللحم ځناورو بولې، ليد او خوښايې وغيره د چاپر بدن يا جامو ولگيږي نو په قدر ديوه درهم يا د ورغوي د سوري مقدار يا له دې څخه لږ معاف دي که له دومره اندازه نجاست سره لمونځ اداء شو نو لمونځ صحيح دى ولې چې له قليل مقدار نجاست څخه ساتنه ممکنه نه ده لهذا بناء بر ضرورت هغه معاف کړل شوى دى، او که نجاست له يوه درهم څخه زائد وي نو لمونځ جائز نه دى.

په نجاست قليل و کثير کې حد فاصل درهم او د ورغوي د سو مقدار دى د درهم او ورغوي د سور (پلن والي) مقدار قليل دى له دې څخه زائد کثير دى، او دا پر موضع استنجاء باندې قياس شوى دى يعنې د استنجاء ځاى بالاجماع معاف دى نو فقهاؤ د هغه مقدار په اندازه کولو سره يو درهم د عفو تقدير بيان کړى دى او که له يوه درهم څخه زائد نجاست لگيدلى وى نو له هغه سره لمونځ کول جائز نه دى لما قال ابن عابدين: وفي الحلية التقدير بالدرهم وقع على سبيل الكناية عن موضع خروج الحدث من الدبر كما افاده ابراهيم النخعي بقوله انهم استكرهوا ذكر المقاعد في مجالسهم فكنوا عنه بالدرهم (رد المحتار: ۱/ ۲۳۱) د امام شافعي رحمه الله په نزد په نجاست قليل او کثير کې هيڅ فرق نشته د د واړو پاکول ضروري دي ولې چې په نصوصو کې په قليل او کثير کې هيڅ تفريق نه دى شوى.

ف: بيا که نجاست نرم وي نو د درهم مقدار د مساحت په اعتبار سره دى يعنې که د لاس د ورغوي د پلنوالي په اندازه يا له دې څخه کم وي نو معاف دى، او که نجاست خټه وي نو د درهم مقدار د وزن په اعتبار سره مراد دى يعنې د نجاست وزن ديوه درهم يا له دې څخه کم وي نو معاف دى، او له درهم څخه مراد هغه دى چې د هغه وزن

ديوه مثقال له وزن سره برابروي ،دورغوي دعرض دمعلومولوطريقه داده چې په لپه كې اوبه راوخله اوګوتې ښې خلاصې كړه نوپه ورغوي كې چې څومره اوبه پاتې شي دادورغوي عرض دى لمافى الهندية :والصحيح ان يعتبربالوزن فى النجاسة المتجسدة وهوان يكون وزنه قدرالدرهم الكبيرالمثقال وبالمساحة فى غيرها وهوقدرعرض الكف(هندية: ۱/۴۵)وفى الشامية:وطريق معرفته ان تغرف الماء باليد ثم تبسط فما بقى من الماء فهومقدار الكف(ردالمحتار: ۱/۲۳۲)

ف:دصاحبينوپه نزددليد (دخره ګندګې) اوخوښيونجاست غليظه نه بلكه خفيفه دى دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددي شيانونجاست، نجاست غليظه دى اوهمداراجح دى لمافى الشامية :لكن فى النكت للعلامة قاسم ان قول الامام بالتغليظ رجحه فى المبسوط وغيره ولذاجرى عليه اصحاب المتون (ردالمحتار: ۱/۲۳۵، كذافى الهندية: ۱/۴۶)

ف:دامام زفر رحمه الله په نزددماكول اللحم اوغيرماكول اللحم په ګندګې كې فرق شته يعنى دماكول اللحم ګندګې نجاست خفيفه دى اودغيرماكول اللحم ګندګې نجاست غليظه دى ،دامام محمد رحمه الله په نزدليدمانع عن الصلوة نه دي كه څه هم ډيرزيات وي ،مروى ده چې امام محمد رحمه الله چې كله رى ښارته داخل شونوويې ليدل چې دهغه ځاى تولې لارې له ليدواوګوبروڅخه ډكې وي نوفتوى يې وركړه چې داكه كثيرفاحش هم په جامو ولګيږي نومانع عن الصلوة نه دي، پرهمدي مشائخ بخارى كيچړقياس كړى دى كوم چې په لاروكې له ګوبرواوخاوروڅخه په مخلوط ډول پراته وي چې دبخارى كيچړكه په جامو ولګيږي نومانع لمانځه نه دي لمافى فتح القدير:حتى رجع محمدآخرالى انه لايمنع الروث وان الفحش لمادخل الرى مع الخليفة ورأى بلوى الناس من امتلاء الطرق والخانات بها،وقاس المشائخ على قوله هذاطين بخارى لان مشى الناس والدواب فيها(فتح القدير: ۱/۲۰۵باب الانجاس).لهذازموږپه زمانه كې كه چيرته دابتلاء عام صورت وونودامام محمد رحمه الله پرقول دفتوى وركولوګنجائش شته.

(۱۷۶)قوله ومادون ربع الثوب اى وعفى مادون ربع الثوب ،يعنى نجاست خفيفه لكه دماكول اللحم څارويوبولې ،دآس بولې، دهغومارغانوګندګې چې دهغوغوښه نه خوړل كيږي ،دماهى وينه ،دقچراو خره ناړې كه دچاپربدن ياجامو ولګيدنوكه له يوې څلورمې څخه لږمقدارلګيدلى وونوهغه معاف دى اوكه يوڅلورمه ياله دې څخه زائدوونوهغه معاف نه دى اوله هغه سره لمونځ كول جائزنه دى ولى چې مانع مقداركثيرفاحش دى اوپه ډيرواحكاموكې څلورمه په كل پورې لاحقه ګرځول شوې ده مثلاًدسر دڅلورمې مسح دكل سردمسح قائم مقام ده لهذاپه يوې څلورمې دنجاست په لګيدلوسره كثرت فاحشه حاصليږي په دې وجه كه په يوه څلورمه نجاست ولګيدنولمونځ نه كيږي.

ف:بيايوروايت دادى چې دټول بدن اودټولې جامې څلورمه مراده ده ،دوهم روايت دادى چې لږترلږه هغه جامه چې په هغه كې لمونځ صحيح كيږي دهغې ربع مراده ده اودريم روايت دادى چې دجامې يابدن په كومه حصه چې نجاست لګيدلى وي دهغې څلورمه مراده ده مثلاًلستونى يالمن وغيره ،همدقول راجح دى لمافى شرح التنوير:(وعفى دون ربع)جميع بدن و(ثوب) ولوكبيراهوالمختارذكره الحلبى ورجحه فى على القدير بربع المصاب كيدوكم وان قال فى الحقائق وعليه الفتوى (الدرالمختارعلى ردالمحتار: ۱/۲۳۵)امام ابويوسف رحمه الله په شبرافى شبرباندي اندازه كړى دى.

ف:دماكول اللحم څاروېوبولې دامام محمد رحمه الله په نزدپاكې دي حال داچې دشيخينوپه نزدنجاست خفيفه دي ولې چې نصوص په كې متعارض دي له حديث عرنيين څخه حلت اوله استنزهواعن البول الخ څخه نجس والى معلوميږي ،اودامام ابويوسف رحمه الله داصل مطابق اختلاف علماء هم وموجوددى ،دامام محمد رحمه الله په نزدآس بولې پاكې دي حال داچې دشيخينوپه نزدناپاكې نجس خفيفه دي ولې چې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددآس غوښه دآله جهادپه وجه سره مكروه ده نه داچې دآس غوښه نجسه ده نوآس په دي اعتبارسره په ماكول اللحم څاروېوكې داخل دى ،فتوى دشيخينوپرقول ده لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله .من نجاسة مخففة كبول ماكول ومنه الفرس,وطهره محمد(الدرالمختار: ١/٢٣٥)

ف:دغيرماكول اللحم مرغانوگندگې دامام محمد رحمه الله په نزدنجاست مغلظه ده ولې چې داسې مرغان له نجاست سره مختلط اوسيږي حال داچې دشيخينوپه نزدداسې مرغان كله له هوا څخه گندگې غورځوي نوله دي څخه ساتنه مشكله ده په دي وجه ددوئ گندگې نجاست خفيفه ده لمافى الفتح :اختلف المشائخ فى ان قولهمابجوازالصلوة بناء على طهارة خرء الطيورالمحرمة ,اوعلى التقديرفيه ....واتفقواعلى انه نجس مغلظ عندمحمد............وجعل المصنف الاصح التخفيف بناء على ان الضرورة فيه لاتؤثرا كثرمن ذالك فانه قلمايصل الى ان يفحش فيكفى تخفيفه(فتح القدير: ١/٢٠٧)

ف:دماهى وينه دامام ابويوسف رحمه الله په نزدناپاكه ده اودخره اوقچرناړي نجاست خفيفه دي .مگرصحيح داده چې دماهى وينه پاكه ده ولې چې دماهى وينه صورةً خووينه ده مگرپه حقيقت كې وينه نه ده ولې چې وينه لرونكې څاروي په اوبوكې نه اوسيږي ،اودخره اوقچرپس خورده يقيناپاكه ده اوشک ددي په مطهروالى كې ده لهذاددوئ لعاب (ناړي) هم پاكې دي لمافى الشامية :والمذهب ان دم السمك طاهرلانه دم صورة لاحقيقة وان سؤرهذين (البغل والحمار)طاهرقطعاوالشک فى طهوريته فيكون لعابهماطاهر(ردالمحتار: ١/٢٣٦)

كه دبولو څاڅكې پرجامودستنې دسرپه برابرولگيدل نوله ربع ثوب څخه په كم مقدارجامه نه مرداريږي ولې چې له دي څخه ځان ساتل ممكن نه دى.امام ابويوسف رحمه الله فرمايې كه دبولې څاڅكې پرجامو ولگيدل اودهغواثرپه جامه ښكاره شونودهغو پرېمنځل ضروري دى اوكه دهغو مجموعه ديوه درهم برابروه نوله هغوسره لمونځ كول جائزنه دى.

ف:دمتن قول مفتى به دى لماقال العلامة الشامي : بعدبحث :وقدظهربماقررناه ان الخلاف فيمايرى اثره .....وان الارجح العفوعنه وعدم اعتباره كمامشى عليه الشارح(حاشية ابن عابدين: ١/٢٣٦)

كه دبولو څاڅكې په اوبوكې ولويږي نودبعضومشائخورأيه داده چې په دي سره اوبه نه مرداريږي ولې چې په دي شان څاڅكوسره لكه څرنگه چې جامه نه مرداريږي اوبه هم نه مرداريږي .او دبعضورأيه داده چې اوبه مرداريږي ولې چې په جامه ساتنه كې څرنگه چې حرج دى په دي وجه هغه نه مرداريږي حال داچې په اوبوكې هيڅ حرج نشته لهذااوبه مرداريږي اوهمداصحيح دى لمافى الهندية : واماإذاانتضح فى الماء فانه يتنجس ولايعفى عنه لانه طهارة الماء أكدمن طهارة الابدان والثياب والمكان (هندية: ١/٤٦,كذافى الدرالمختار: ١/٢٣٧)

(١٧٧)والنجس المرئى يطهر بزوال عينه إلاّمايشق (١٧٨)وغيره بالغسل ثلاثا والعصرِ كلّ مرّة (١٧٩)وبتثليث الجفاف فيما لاينعصر

ترجمه: او ښکاره کیدونکی نجاست پاکیږي د عین نجاست په لیري کولو سره مګر دا چې مشکل وي د هغه لیري کول، او له دي څخه علاوه په دري ځله پریمنځلو سره او په هر ځل نښتیځلو سره، او په دري ځله وچولو سره په هغو شیانو کې کوم چې نه نښتیځل کیږي.

تشریح: نجاست پر دوه قسمه دی ./نمبر۱. مرئی (کوم چې په وچیدلو سره په سترګو معلومیږي لکه پاخانه وغیره). /نمبر۲. غیرمرئی (کوم چې په وچیدلو سره په سترګو نه ښکاریږي).

(۱۷۷) قوله نجاست مرئی څخه د جامې د پاکولو طریقه داده چې د هغه عین او ذات لیري کړل شي ولی چې نجاست د خپل ذات په اعتبار سره په محل کې حلول کړی دی لهذا د هغه د ذات په لیري کولو سره نجاست لیري کیږي، البته که د نجاست داسې اثر (رنګ او بوی) پاتې شو د کوم چې زائلول مشکل وو د کوم چې زائلولو ته د صابن او اشنان وغیره ضرورت وونو دا مانع جواز نه دي ولی چې د دي په زائلولو کې حرج دی او حرج په شریعت کې مدفوع دی.

(۱۷۸) قوله وغیره بالغسل ثلاثا الخ ای غیر المرئی من النجاسة یطهر بالغسل ثلاثا الخ، یعنی له نجاست غیرمرئی (نه ښکاره کیدونکی نجاست) څخه د جامې د پاکولو طریقه داده چې دومره دي وپریمنځل شي چې د وینځونکې غالب ګمان شي او س پاکه شوه ولی چې د ازاله نجاست لپاره په پریمنځلو کې تکرار ضروري دی او د زوال نجاست قطعی علم ممکن نه دی په دي وجه د غالب ګمان اعتبار شوی دی او د غالب ګمان اندازه په دري ځله پریمنځلو سره لګول شوي ده ولی چې په دي تعداد سره غالب ګمان حاصلیږي نو د آسانې لپاره ظاهري سبب یعنی د دریو عدد د غالب ګمان قائم مقام ګرځول شوی دی او د دي تائید له حدیث اذا استیقظ احدکم من منامه الخ څخه هم کیږي. بیا ظاهر روایت دادی چې هر ځل نښتیځل هم ضروري دی ولی چې په نښتیځلو سره نجاست خارجیږي.

(۱۷۹) قوله وبتثلیث الجفاف فیما لاینعصر ای ویطهر بتثلیث الجفاف فیما لاینعصر، یعنی کوم شیان چې نه شی نښتیځل کیدای لکه چټائي وغیره نو هغه په دري ځله پریمنځلو او هر ځل وچولو سره پاکیږي ولی چې وچول مؤثر دي په ازاله نجاست کې ځکه چې وچول د نښتیځلو کار ورکوي، مګر په وچولو سره مراد دادی چې د اوبو څڅیدل بند شي وچیدل مراد نه دي.

ف: د تثلیث شرط هغه وخت دی چې غاسل په وسوسه مبتلاوي د کوم چې په یو ځل پریمنځلو سره د پاکیدلو خیال نه کیږي او مفتی به قول دادی چې عدد ی تعیین نشته بلکه که په یو ځل پریمنځلو سره د غاسل ګمان غالب د پاکیدو شي نو دوهم او دریم ځل پریمنځل واجب نه دي البته مستحب ضروردي او همدا حکم د نښتیځلو دی لمافی الدر المنتقی علی هامش المجمع الانهر: ۱/۹۰: والفتوی علی اعتبار غلبة ظن الغاسل من غیر تقدیر بعدد مالم یکن موسوسا فیقدر بالثلاث ،وفی البدائع ان التقدیر بالثلاث لیس بلازم بل هو مفوض الی رای المبتلابه ،ومافی المحیط وغیره من اشتراط العصر احوط مسلم ولکن لایقتضی الوجوب وکذا کون الفتوی علیه وما اشتراط العصر فی کل مرة هو ظاهر الروایة وفی غیر روایة الاصول یکتفی بالعصر مرة واحدة وهو ارفق وفی التاتار خانیة عن النوازل وعلیه الفتوی.

ف: لیکن که یې له نلکي څخه اوبه په تویولو یا یې په لوی حوض یا جاري اوبو کې وینځی نو بیا د نښتیځلو او تثلیث اشتراط نشته بلکه دومره اوبه پري تویول کافی دي څومره چې په دري ځله

پريمنځلو مصرفيږي ولې چې جريان الماء دتثليث اونبتيځلو قائم مقام دي لمافي الشامية: المعتبر في تطهير النجاسة المرئية زوال عينها ولو بغسلة واحدة ولو في اجانة كمامر فلايشترط فيها التثليث غسل ولاعصر وان المعتبر غلبة الظن في تطهير غير المرئية بلاعدد على المفتى به او مع شرط التثليث على مامر ولاشك ان الغسل بالماء الجاري ومافي حكمه من الغدير او الصب الكثير الذي يذهب بالنجاسة اصلا ويخلفه غيره مرارا بالجريات اقوى من الغسل في الاجانة التي على خلاف القياس لان النجاسة فيها تلاقي الماء وتسرى معه في جميع اجزاء الثوب فيبعد كل البعد التسوية بينهما في اشتراط التثليث وليس اشتراطه حكما تعبديا حتى يلتزم (ردالمحتار: 1/ 343)

ف: دكورقالين (غالي) دماشومانو په بولو وغيره په وجه سره مرداره وي چاودس وكړاوپرهغه يې پښه كښيښوده نوكه پښه دومره لنده نه وه چې په هغې سره قالينه بنه لنده شي او پرې دي دومره لنده والي راشي چې كه پرې دي كوم بل شي كښيښودل شي نوهغه به هم لوندشي نوپښه نه مرداريږي اوكه پښه دومره لنده وه چې په هغې سره قالينه هم بنه لنده شوه په كومه چې بل شئ هم لنديږي نوپښه مرداريږي لمافي شرح التنوير: نام او مشى على نجاسة ان ظهر عينها تنجس والالا وقال ابن عابدين: (قوله نجاسة) اى يابسة لمافي متن الملتقى لو وضع ثوبا رطبا على ماطين بطين نجس جاف لاينجس قال الشارح لان بالجفاف تنجذب رطوبة الثوب من غير عكس بخلاف ما اذا كان الطين رطبا (ردالمحتار: 1/ 353)

(180) وَسُنَّ الِاسْتِنْجَاءُ بِنَحْوِ حَجَرٍ مُنْقٍ (181) وَمَاسُنَّ فِيهِ عَدَدٌ (182) وَغَسْلُهُ بِالْمَاءِ أَحَبُّ (183) وَيَجِبُ إِنْ جَاوَزَ النَّجَسُ الْمَخْرَجَ وَيُعْتَبَرُ الْقَدْرُ الْمَانِعُ وَرَاءَ مَوْضِعِ الِاسْتِنْجَاءِ (184) لَا بِعَظْمٍ وَرَوْثٍ وَطَعَامٍ وَيَمِينٍ

توجمه: اوسنت ده استنجاء په مثل دپاكونكې ډبرې سره، اونه دى سنت په دې كې عدد، اوپه اوبو سره استنجاء كول بنه كاردى، اوواجب دى كه زيات شونجاست له مخرج څخه او اعتباربه كيږي دمقدارمانع له موضع استنجاء څخه علاوه، نه په هډوكې سره او په ځوښايو سره اودخوراك په شيانو سره اوپه ښى لاس سره مگر دعذر په وجه.

تشريح: څرنگه چې له سبيلينو څخه دنجاست ليرې كولوته استنجاء ويل كيږي په دې وجه يې استنجاء دباب الانجاس ماتحت ذكركړه. استنجاء له نجو څخه ده نجوله نس څخه راوتونكى نجاست ته ويل كيږي نو داستنجاء معنى داوبويا خاوري وغيره په ذريعه سره له نس څخه دراوتونكى نجاست څخه پاكې حاصلول دي.

(180) استنجاء زموږ په نزد سنت مؤكده ده ولې چې نبى كريم ﷺ پراستنجاء مواظبت فرمايلې دى اومداومت مع ترك احياناً دسنتيت دليل دى، بيااستنجاء په پاكونكې ډبره ياهرهغه شى كوم چې په تطهيركې دډبرې قائم مقام وي جائزده ولې چې مقصود پاكې حاصلول دي لهذا دمقصوداعتباربه كيږي په دې شرط چې غيرمحترم اوغيرقيمتي شى وي لكه دخاوررولوټې وغيره.

(181) بياپه ډبروكې كوم مسنون عددنشته بلكه په څومره اندازه چې پاكې حاصله شي هغومره دي استعمال كړي خواه كه درې وي ياكم وبيش، دامام شافعي رحمه الله په نزددرېودبرو موجودوالى ضروري دى لقوله ﷺ «اذاذهب احدكم الى الغائط فليذهب معه بثلاثة احجار يستطيب بهن فانها تجزى عنه» (يعنى كله چې څې له تاسې څخه كوم يو دپاخانې دكولو لپاره نودرې ډبرې دله ځان سره ويسې په هغو دې استنجاء وكړي او دادا استنجاء لپاره كافي دي)، زموږ دليل دنبى كريم ﷺ ارشاد «من استجمر فليوتر ومن فعل هذا فقد أحسن ومن لا فلا حرج» (يعنى چاچې په ډبره استنجاء وكړه نوطاق دي كوي چاچې دي داسې وكړل نوډيرښه يې وكړل اوچاچې ونه كړل

پرهغه څه ګناه نشته)لهذا په دري ډبروسره استنجاء کول ضروري نه ده، مګر داحنافوپه دي دلیل اعتراض شوی دی چې له دي څخه خودوجوب ایتارنفی ثابتیږي نه دوجوب تثلیث نفی ؟ځواب: ایتارعام دی اوتثلیث خاص دی اودعام نفی دخاص نفی ته مستلزم ده ونوپه کومو روایتونوکې چې په دریودبروسره داستنجاء کولو حکم دی هغه پر استحباب محمول دي .

(۱۸۲)په استنجاء کې دډبرو له استعمالولو څخه وروسته داوبو استعمال ادب اومستحب دی ولی چې نبی کریم ﷺ به کله په اوبوسره استنجاء کوله اوکله به یې پریښوده اوهمدااستحباب تعریف دی ،همدا راز دایت مبارک ﴿ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا ﴾ (په قباء کې رجال دي کوم چې خوښوي چې ښه طهارت حاصل کړي)په باره کې حضرت ابوهریرة ﷺ له نبی کریم ﷺ څخه روایت کوي چې دادقباء والاوو په باره کې نازل شوی دی کوموچې به داستنجاء کولوپروخت له ډبروڅخه وروسته اوبه هم استعمالولې ،دځینې حضراتورأیه داده چې په دي زمانه کې دغذاء دتبدیلې په بناء په اوبواستنجاء کول مسنون ده ولی چې دمخکنی زمانې خلګو دپچو په شان پاخانه کوله حال داچې په دي زمانه کې نرمه پاخانه کوي .

ف:دابایدیادوساتل شي چې په اوبو استنجاء مستحب ده په دي شرط چې دکشف عورت خطره نه وي که دکشف عورت خطره وه نوترک دي کړي ولی چې کشف عورت فسق دی دکوم چې ارتکاب دحصول مستحب لپاره صحیح نه دی لمافی الشامیة:(فلو کشف له الخ)ای للاستنجاء بالماء قال نوح افندی لان کشف العورة حرام ومرتکب الحرام فاسق سواء تجاوز النجس المخرج اولا وسواء کان المجاوز اکثر من الدرهم او اقل ومن فهم غیر هذا فقد سها لمافی شرح المنیة عن البزازیة ان النهی راجح علی الامر (ردالمحتار: ۱/۲۴۸)

(۱۸۳)که نجاست داستنجاء له ځای څخه دیودرهم په اندازه دلته هلته متجاوزشونواوس ډبره وغیره کافی نه ده بلکه په اوبوسره یې لیري کول واجب دي ولی چې اوس دادنجاست حقیقیه له بدن څخه دزائلولوله قبیلې څخه ده اونجاست حقیقیه له بدن څخه صرف په اوبوسره لیري کیدای شي . دتجاوزحددشیخینودمذهب مطابق دادی چې له موضع استنجاء څخه ماسوا ترقدردرهم زائدوي ولی چې پرمخرج موجودنجاست شرعاًساقط دی مګرامام محمد رحمه الله فرمایې چې موضع استنجاء هم محسوب دی ،دشیخینوقول راجح دی لمافی ملتقی الابحر :ویجب ان جاوز النجس المخرج اکثر من درهم ویعتبر ذالک وراء موضع الاستنجاء (ملتقی الابحر: ۱/۹۹)،قال الشیخ عبدالحکیم الشهید؛وقال علامة قاسم والصحیح قولهما واختاره صاحب الکنز (هامش الهدایة: ۱/۷۶)

ف:دافاده عام لپاره داستبراء په باره کې دحضرت مولانامفتی رشیداحمدلدهیانوی قدس سره یوتوقیع تحریربلفظه نقل کوم :**سوال** :په لوټه دبولودڅاڅکودوچولومعهوده طریقه کومه چې نن صبامروجه ده ،ایاداضروري ده که په دي طریقه سره څاڅوکې وچ نه کړل شي نوایالمونځ نه صحیح کیږي .که داطریقه شرط وي نونبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ ددي تعلیم ولی نه ده کړی اوصحابه کرامو ﷺ داطریقه ولی نه ده اختیارکړي ؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب

فقهاء کرامو رحمهم الله تعالی دبولودڅاڅکودوچولولپاره دامعهوده طریقه بیان فرمایلې ده دکومې وجه چې بعض علماء دابیانوي چې په مخکنی زمانه کې مثانې قوي وي په دي وجه دقطراتو دراتلو احتمال نه

وو،په دي دورکې په مثانوکې هغه قوت نه دي پاتې ،په دي وجه په دي طريقه سره دقطراتودصفائي ضرورت پيښ شو ،لهذا دفقهاؤبيان کړي داطريقه دنبی کريم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ په قول اوعمل زيادت نه دی چې دي ته بدعت وويل شي بلکه دتغيرزمانې په بناء باندي دموجوده زمانې دضرورت په لحاظ سره دتنظيف اوتطهيرديوي طريقي په وجه سره داهم عمل بالحديث شمارل کيږي.

پر مذکوره وجه باندي دااشکال شته چې له بولوڅخه وروسته دقطروراتلل دضعف مثانې په وجه سره نه وي ،دضعف مثانه په وجه سره چې کومه عارضه لاحقيږي دهغې اثرداوي چې په توخی ، پرنجی اوټوپ وغيره سره قطره خارجيږي اوچاته چې دامرض لاحق وي هغه ته داستبراء دامعهوده طريقه هم څه فائده نه ورکوي ،له بولوڅخه وروسته درطوبت دښکاره کيدلوباعث ضعف مثانه ده بلکه دبولودنلی اوږدوالی اوپه هغه کې پيچ اوخم دهغه باعث جوړيږي ،په طبی نقطه نګاه سره ددي امرله مسلم والی څخه علاوه پردي دادليل هم دی چې حضرات فقهاؤدښځولپاره داستبراء داطريقه نه ده تحرير کړي بلکه دايې په نارينه وپوري خاص کړي ده قال ابن عابدين :تحت قوله يجب الاستبراء الخ)وفيهاان المرأة کالرجل الافی الاستبراء فانه لااستبراء عليهابل کمافرغت تصبر ساعة لطيفة ثم تستنجی ومثله فی الامداد(الشامية: ۱/۳۱۹)له دي څخه ثابته شوه چې داستبراء دددي معهودي طريقې علت ضعف مثانه نه دی ،په دي وجه چې داعلت وای نوداحکم به ښځولره هم وای ،په ښځوکې ځکه چې دبولونلی طويله اوخمداره نه ده په دي وجه يې دوئ مستثنی کړي دي .

کله چې داستبراء علت داشونودمعهودي طريقې پرځای يوبله آسانه اومختصره طريقه اختيارېدای شي هغه داچې له بولوڅخه وروسته دي لومړی دپاخانې له ځای څخه دخصيتينوطرف ته په رګونوګوته تيره کړای شي له دي څخه وروسته دي دبولوپرنلی ګوته تيره کړای شي نوپه لاره کې چې کوم رطوبت دی هغه به خارج شي له دي څخه وروسته دقطري دراتلوهيڅ احتمال باقی نه پاتې کيږي ،بنده متعددځله ددي تجربه کړي ده چې په دي طريقه له استبراء کولوڅخه وروسته څوسوه قدمه په ډيره تيزي سره تللی دی ،ټوخلې يې دي ،منډه يې وهلې ،څوپورته ناسته يې کړي ده له دي باوجودڅه رطوبت په نظرنه ده راغلی.

له دي تحقيق څخه وروسته اصل اشکال بيرته عودکوي چې دنبی کريم ﷺ په زمانه کې هم داعلت موجودوونوده ولی ددي قسم داستبراء حکم نه وکړی اوصحابه کراموولی ددي اهتمام نه وکړی،له غورکولوڅخه وروسته ددي ځواب داپه ذهن کې راځي چې شريعت دابتلاء عام په مواقع کې نجاست قليله معاف کړی دی ، لکه رشاش البول کرؤس الإبرة اوپه بيت الخلاء کې دمچانووغيره په غلاظت له کښينستلوڅخه وروسته پرجسم اوجامو باندي کښينستل اوطين شارع وغيره،ددي قانون تقاضاداده چې داستبراء يوه طريقه هم استعمالول ضروري نه ده بلکه پروخت نجاست مرئيه په لوټه يااوبوسره صافول کافی دی له دي څخه وروسته که په غيرمحسوس ډول څه رطوبت بهيږي نوهغه شرعاًمعاف دی، معهذاځکه چې په احاديثوکې داستبراء ډيرتاکيد اوپرعدم اجتناب من البول باندي وعيدشديد واردشوی دی په دي وجه داحتياط تقاضاداده چې په بطريق بالا داستبراء اهتمام وکړای شي يعنی دبولوپرنلی ګوته تيره کړای شي

اورطوبت خارج کړای شي له دي څخه وروسته دي په لوټه یا اوبو سره استنجاء وکړای شي،افضل داده چې لومړی په لوټه سره نجاست زائل کړای شي اوله دي څخه وروسته اوبه استعمال شي،البته نن صباپه ښارونوکي دګټرډسټم په وجه دلوټواستعمال ډيرتکلیف ورکونکی ثابتیږي ،دلوټوپه اچولوسره داوبولاره بندیږي کومه چې ددیرسخت تعفن اوایذاء باعث جوړیږي، بیاددوئ په صفائي کې هم ډیروقت پیښیږي لهذاپه داسي مواقعوکي دلوټواستعمال هیڅکله بایدونه کړای شي،دلوټو استعمال مستحب دی اوخپل نفس اونورپه تکلیف کې اچول حرام دی ،دکوم مستحب کارلپاره دحرام ارتکاب جائزنه دی،البته دصفائي په غرض چې کوم جاذب کاغذپه بازارکې پیداکیږي دهغه استعمال جائزدی .

له بولوڅخه داستبراء اهتمام کول بلاشبه مؤکددی مګرپه دي کې ډیره غلوکول شرعاًصحیح نه ده په صحیح بخاری کې شته چې حضرت ابوموسی اشعری ؓ دبولوپه باره کې له ډیرشدت څخه کاراخیستی ،حافظ بدرالدین عینی ؒ ددي په شرح کې نقل کړي دي چې حضرت ابوموسی اشعری ؓ دبولوله څاڅکوڅخه دحفاظت په غرض سره په بوتل کې بولې کولې .مګرداشدت دنوروصحابه کرامو ؓ خوښ نه وولکه چې په صحیح بخاری کې پردي دحضرت حذیفه ؓ اعتراض منقول دی کان ابوموسی الاشعری ؓ یشددفی البول ویقول ان بنی اسرائیل کان اذااصاب ثوب احدهم قرضه فقال حذیفة ؓ لیته امسک اتی رسول الله ﷺ سباطة قوم فبال قائما(بخاری : ۱/ ۳۶)وقال الحافظ العینی ؒ (قوله یشدد)جملة فی محل النصب علی انه خبر کان ومعناه کان یحتاط عظیماقی الاحترازعن رشاشه حتی یبول فی القارورة خوفاان یصیبه من رشاشاته شئ(عمدة القاری:۳/ ۱۳۸)

دحضرت شاه عبدالعزیز ؒ فتوی :دطریقه مروجه داستبراء تارک ته چې کوم خلک بدعتی وایې نوداصرف ددي فرقه ظاهربین له مبالغاتوڅخه ده داقابل اعتبارنه ده ،په بخاری اودهغې په شروحوکې مذکوره ده چې ابوموسی اشعری ؓ دعذاب قبرحدیث واوریدونوپه دي وجه هغه له بولوڅخه ډیراحتیاط کاوو،حتی چې کله به دبولوحاجت وونودبولوځای به یې په بوتل کې داخلاوواودهغه دننه به یې بولې کولې له دي ویري څخه چې داسي ونه شي چې چیرته پربدن یاجامه څاڅکې ونه لګیږي ، نوحذیفه ؓ دانکارپه ډول ده ته وویل چې ماولیدل چې نبی کریم ﷺ دیوقوم پرسباطه یعنی دکچرودا چولوځای ته ولاړی اوپه ولاړه یې بولې وکړي اوپه دي کې شبه نشته چې په ولاړه سره په بولوکولوکې دڅاڅکودلګیدلوګمان شته .اوپه تجربه سره ثابته ده چې کله په استبراء کولوکې مبالغه کیږي نوله مثانې څخه بولې راتویږي اوددي مثال دادی کله چې شیدي لونبل کیږي نوشیدي دځاروي په تي کې راځي اوکله چې لونبل موقوف کړای شي نوشیدي هم موقوفې شي .(فتاوی عزیزیه ،۲/ ۱۴۰)

دحضرت حکیم الامت تهانوی ؒ وینا،حضرت خواجه صاحب عرض وکړچې ماته په استنجاء کې ډیره وسوسه پیداکیږي په ډیروخت کې په مشکل سره ټول وچیږي په کتلوسره څه ناڅه راوځي .وي فرمایل داسي هیڅکله مه کوه ،په معمولي ډول سره استنجاء وکړه اوورینځه یې ،په عوارف کې لیکلي دي چې ددي حال دتي په شان دی چې ترکله یې موښې څه ناڅه راوځي اوکه یې همداسي پریږدي نوهیڅ هم نشته .حضرت خواجه صاحب عرض وکړچې وروسته قطره رواځي .وي فرمایل چې هیڅ فکرمه کوه که دي خوښه وي وروسته دلمانځه اعاده وکړه لیکن ترکله چې په تکلف جبرکولوسره دوسوسي خلاف ونه کړل شي

دامرض نه څې په دې وجه خوته په ډیر تکلیف کې یې .خواجه صاحب عرض وکړچې درطوبت په وجه سره دیوه وخت په اوداسه کې دبل وخت داوداسه لپاره شک پیداکیږي اوددې په وجه رومال هم وینځم ،وې فرمایل چې مه اودس کوه اومه رومال وینځه ،یوڅو ورځې په تکلف سره په بې التفاتې کولوسوسې ختمیږي .(ملفوظات کمالات اشرفیه صفحه ۱۹۸ملفوظ ۸۰۷)

له دې څخه ثابته شوه چې په استنجاء کې ډیره غلواوشدت له شرعاًمذموم والی علاوه دصحت لپاره هم مضرده اوذهنی انتشاراودماغی پریشانیوباعث هم دی ،فقط والله سبحانه وتعالی اعلم . (احسن الفتاوی جلد :۲صفحه ۱۰۴تا۱۰۷)

(۱۸۴)قوله ولابعظم وروث الخ ای لایستنجی بعظم وروث الخ ،یعنی په هډوکی ،ګوبراودخورک په شیانواستنجاء وهل شرعاًممنوع ده لقوله ﷺ لاتستنجوابالروث ولابالعظام فانه زاداخوانکم من الجن (یعنی تاسې په ګوبراوهډوکی استنجاء مه کوئ ولې چې هغه ستاسې دورونویعنی پیریانوتوشه ده)،اوپه دې وجه سره هم چې دادجناتودغذااتلاف اواهانت دی، همداشان په ښی لاس سره هم استنجاء نه کیږي ولې چې نبی کریم ﷺ په ښی لاس سره له استنجاء کولوڅخه منع فرمایلې ده البته که په کیڼ لاس له استنجاء کولوڅخه معذوروي نوجائزدی.

ف :صاحب جوهره دیارلس داسې شیان ذکرکړي دي چې په هغوسره استنجاء مکروه ده ./نمبر۱- هډوکی ./نمبر۲- ګوبرددې دواړودکراهت وجه پورته ذکرشوه ./نمبر۳- په وجه پاخانه سره ،ولې چې داپه خپله نجسه ده په دې وجه په دې سره استنجاء صحیح نه ده ./نمبر۴- دخوراک په شیانو./نمبر۵- ونمبر۶- ونمبر۷- په وینښتانو،وریواوجامې سره استنجاء مکروه ده ددې دریوواړووجه داده چې په دې سره په استنجاء کولوکې اسراف اواهانت دی ./نمبر۸- کوئله. /نمبر۹- شیشه ونمبر۱۰- کودری نمبر۱۱- دیانس نری دره ددې څلوروجه داده چې داجسم زخمې کوي ./نمر۱۲- کاغذولې چې کاغذدلیکلوآله ده (البته کوم شی چې دهمدې لپاره وضع شوي وي په هغوسره استنجاء کول جائزده لکه ټشوپیپر وغیره)./نمبر۱۳- په راسته لاس سره استنجاء مکروه ده ددې دکراهت وجه پورته بیان شوه .

دبولومکروهات :په اوبوکې بولې یاپاخانه کول مکروه دي ،که په ولاړوډیرواوبوکې وي نومکروه تحریمي ده اوکه ولاړې لږاوبه وي نوحرام ده اوپه روانواوبوکې مکروه تنزیهي ده مګرداچې مجبوري وي لکه کوم کس په کښتی کې سپوروي ،همداشان دلښتیانوپرسربیت الخلاء جوړول یادبیت الخلاء اوبه په لښتیانوکې بهول صحیح نه ده ،دنهریاڅاه په حوض یاچشمې پرغاړه بولې کول که څه هم نجاست ابوته نه ورسیږي ،اوددرختې لاندې یاپه کښت یاپه داسې سایه لرونکی ځای کې چیرته چې خلک کښینې مکروه دي ،همداشان په مسجد،عیدګاه ،هدیره ،دڅارویوپه منځ کې ،په ابادولاروکې، بادته مخامخ ،دمار،میږیانووغیره په غارونوکې ،دچاپه لاره کې ،دچادناستې پرځای ،دلارې په څنډه کې ،قافلې یاخیمې ته نږدې اوکښته په کښنستلواوپورته طرف ته بولې کول اودبولوپه حالت کې خبرې کول مکروه دي (والتفصیل فی الدرالمختار:۱/۲۵۲)

كتاب الصلاة

داكتاب دلمانځه داحكامو په بيان كې دى

كله چې مصنف رحمه الله دمفتاح اووسيلې (يعنى پاكى)له بيان څخه فارغ شونويې په مقصوديعنى د لمانځه په بيان شروع وكړه. دصلوة لغوى معنى دعاده قال الله تعالى وَصَلِّ عليهم (أى ادع لهم) إِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُم (يعنى ته دد ئ لپاره دعا وكړه بې شكه ستادعاددوئ لپاره داطمينان موجب ده).اوداشريعت په اصطلاح كې دافعال مخصوصه نوم دى چې له تكبير څخه شروع كيږي اوپه سلام ختميږي اركان مخصوصه ته ددعاويلووجه داده چې اركان مخصوصه په دعامشتمل دي.

لمونځ پرهرمكلف باندي فرض دى مگرماشومانوته به له اوه كلنى څخه دلمانځه امركيږي اوپه لس كلنى كې به دلمانځه په نه كولوسره په لاس وهل كيږي نه په لرگى سره ،اودلمانځه منكر كافردى اوپه قصدسره پريښودل يې فسق دى اوپريښودنكى به وهل كيږي اوبندي كيږي به ترڅوچې لمونځ كول شروع كړي .دلمانځه دشرائطواواركانوتفصيل په كتاب كې ذكرشوى دى دلمانځه حكم په دنياكې له ذمې څخه دواجبوساقطول ديي اوپه اخرت كې ثواب حاصلول دي.

ف:مجموعه پنځه لمنځونه ددي امت خصوصيت دى له عشاء څخه ماسواپاتې څلورلمنځونه په مخكنيو امتونوكې په متفرق ډول سره موجودوو په بذل المجهودكې حضرت مولاناخليل احمد سهارنپورى رحمه الله دحضرت عائشه رضي الله عنها روايت نقل كړى دى چې دحضرت ادم عليه السلام توبه چې كله دصبح صادق پروخت قبوله شوه نوده دوه ركعته لمونځ وكړ په دې ډول سره دسهارلمونځ مشروع شو اودحضرت اسماعيل عليه السلام فديه دماپښين په وخت راغلې وه چې په هغې سره ده څلورركعته دشكرانې په ډول اداكړي وو له دې وخت څخه دماپښين لمونځ مشروع شو اوحضرت عزيرعليه السلام له اوږده خوب څخه سل كاله وروسته دمازديگرپه وخت راويښ كړاى شوپه دې ده څلورركعته اداكړل نوپردې دمازديگر لمونځ مشروع شواودحضرت داؤدعليه السلام لغزش دماښام پروخت معاف شونودى دڅلورركعتونواداكولوپه نيت ودريدومگردشدت حزن اوستړيا له كبله پردريم ركعت كښينوست اوڅلورم ركعت يې ونه شوكړاى له دې وخت څخه دماښام دري ركعته مشروع شول اودماخستن لمونځ ترټولومخكې زموږنبى ﷺ اودده امت اداكړ.(الدرالمنضود:٢/٣)

الحكمة:ان من حكم الصلوة وجود الاطمينان فى القلب فلايجزع عندنزول المصائب ولايمنع الخيراذاوافق اليه لان الجزع ينافى الصبر الذى هومن افضل اسباب السعادة ولان منع الخيرعن الناس مضرة كبرى وعدم الثقة بالخالق الرازق المخلف ماينفقه الانسان فى سبيل البروالاحسان ولذلك قال الله تعالى ان الانسان خلق هلوعا اذامسه الشرجزوعا واذامسه الخيرمنوعا الا المصلين.(حكمة التشريع)

(١) وَقْتُ الْفَجْرِ مِنَ الصُّبْحِ الصَّادِقِ إِلَى طُلُوْعِ الشَّمْسِ (٢) وَالظُّهْرِ مِنَ الزَّوَالِ إِلَى بُلُوْغِ الظِّلِّ مِثْلَيْهِ سِوَى الْفَيْءِ (٣) وَالْعَصْرِ مِنْهُ إِلَى الْغُرُوْبِ

ترجمه:دسهاروخت له صبح صادق څخه بيادلمرترختلوپوري دى اودماپښين وخت له زوال څخه بيادهرشى دسايې تردوچنده كيدلوپوري دى له سايه اصلى څخه ماسوا اودمازديگروخت دسايې نه دوچندى څخه ترلمرلويدلوپوري

تشریح :څرنګه چې دلمانځه وختونه دلمانځه دوجوب لپاره اسباب اودلمانځه داداکیدلولپاره شرط دي اوسبب له مسبب څخه اوشرط له مشروط څخه مخته وي په دي وجه دلمانځه دوختونوبیان مخته کړای شویامصنف صاحب رحمه الله دسهاردلمانځه وخت په دي وجه له نوروو ختونوڅخه مخته ذکرکړچې دادورځې اول لمونځ دی اوپه دي وجه هم چې دااول لمونځ دی چې له خوب څخه په راویښدونکې باندي فرض دی .

ف :فجرصادق هغه سپین والی دی چې په پلنواله سره داسمان په کناروکې خپریږي اوفجرکاذب هغه سپین والی دی چې له فجرصادق څخه مخکې پراسمان په اوږدوالی سره ښکاریږي اوبیاله هغه وروسته تیاره راځي له فجرکاذب وروسته په رمضان کې خوراک ،څښاک اوجماع کول ممنوع نه دي لقوله ﷺ ﴿لايغرنكم اذان بلال ولا الفجر المستطيل إنما الفجر المستطير في الأفق﴾ (دبلال اذان اوفجرمستطیل تاسې دوکه نه کړي فجرصادق هغه دی چې منتشروي په افق کې.

(۱)دسهاردلمانځه وخت له فجرصادق څخه شروع کیږي اودپه طلوع افتاب ختمیږي لقوله ﷺ امني جبريل عندالبيت مرتين ....وصلى بي الفجر حين طلع الفجر...........وصلى بي الفجر حين طلع الفجرواصفروكادت الشمس ان تطلع ثم قال يامحمدهذاوقتك ووقت الانبياء من قبلك والوقت مابين هذين الوقتين (یعنی جبریل علیه السلام دوه ځله په بیت الله کې زما امامت وکړاوله ورځ چې څنګه سهارشواودوهمه ورځ چې سهارشواورڼاشوه اونژدې وو چې لمرراوخیږي ،اخرحدیث کې یې وفرمایل ای محمده داستاوخت دی اوستاڅخه دمخکنیوانبیاوو وخت دی اودسهاروخت ددي دوو وختونوپه منځ کې دی یعنی له طلوع فجرڅخه بیاترلمرختوپوري دی)

(۲)والظهرمن الزوال الخ ای وقت الظهرمن زوال الشمس الخ ،یعنی دماپښین اول وخت دلمردزوال څخه وروسته شروع کیږي ولی چې جبریل علیه السلام دماپښین لمونځ په اوله ورځ په دغه وخت کې ورکړی وو كماقال ﷺ وصلى بي الظهرفي اليوم الاول حين زالت الشمس (یعنی جبریل علیه السلام ماته دماپښین لمونځ راکړکله چې لمرزائل شو).

دماپښین داخروخت په باره کې داحنافواختلاف دی دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدله فئ زوال (اصلی سایه)څخه ماسواچې دهرشی سایه دوه برابره شي نودماپښین وخت ختم اودمازدیګروخت شروع کیږي ،دصاحبین رحمهما الله په نزدله فئ زوال څخه ماسواچې دهرشی سایه یوبرابرشي نودماپښین وخت ختمیږي دصاحبینودلیل حدیث جبریل دی كماقال ﷺ وصلى بي الظهرفي اليوم الثاني حين زالت الشمس وصارظل كل شئ مثله (یعنی دوهمه ورځ چې کله لمرزائل شواودهرشی سایه یومثل شوه نوجبریل علیه السلام ماته دماپښین لمونځ راکړ).

دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دحضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه حدیث دی ﴿أبردوابالظهرفإن شدة الحرمن فيح جهنم﴾ (یعنی دماپښین لمونځ په یخ وخت کې کوئ ځکه چې دګرمی تیزوالی دجهنم دګرمی دتیزوالی له کبله دی)داستدلال وجه داده چې رسول الله ﷺ دماپښین دلمانځه په یخ وخت کې دکولوامرکړی دی اودعربوپه ښاروکې دسایه دیومثل کیدوپه وخت کې سخته ګرمی وي لهذاداثابته شوه چې نبی کریم ﷺ له یومثل څخه وروسته دماپښین دلمانځه دکولوحکم کړی دی .

ف: صاحب درمختارفرمائي چې فتوادصاحبينوپرقول ده لماقي شرح التنوير: وعليه العمل اليوم وبه يفتى (ردالمحتار:١/٢٦٣) مګرعلامه شامي ددېروعلماوو په اقوالوسره دامام صاحب قول راجح ګڼلى دى کماقي الشامية (قوله الى بلوغ الظل مثليه) هذا ظاهر الرواية عن الامام وهو الصحيح بدائع ومحيط وينابيع وهو المختار غياثيه واختاره الامام المحبوبي وعول عليه النسفي وصدر الشريعة تصحيح قاسم واختاره اصحاب المتون وارتضاه الشارحون فقول الطحاوي وبقولهما نأخذ لايدل على انه المذهب ومافي الفيض من انه يفتى بقولهما في العصر والعشاء مسلم في العشاء فقط ولم يظهر ضعف دليل الامام بل ادلته قوية (قوله وهو نص في الباب) فيه ان الأدلة تكافأت ولم يظهر ضعف دليل الامام بل ادلته قوية ايضا كما يعلم من مراجعة المطولات وشرح المنية وقد قال في البحر لايعدل عن قول الامام الى قولهما اوقول احدهما الالضرورة من ضعف دليل اوتعامل بخلافه كالمزارعة وان صرح المشائخ بأن الفتوى على قولهما كماهنا (ردالمحتار:١/٢٦٣) مګربه خبره داده چې دماپښين لمونځ له مثلين څخه مخکې اداء کړاى شي اودمازديګرلمونځ له مثلين څخه وروسته ترڅوهريولمونځ باجماع الائمه صحيح اوپه خپل وخت کې اداشي اوکه دماپښين لمونځ په مثل اول کې ادانه شونوپه مثل ثانى کې اداء کول جائزدي لماقال العلامة الشامي ايضا: اوالاحسن مافي السراج عن شيخ الاسلام ان الاحتياط ان لايؤخر الظهر الى المثلين وان لايصلي العصر حتى يبلغ المثلين ليكون مؤديا للصلوتين في وقتهما بالاجماع (حواله بالا).

ف: ځينې وختونه څوک له مثل اول څخه وروسته په سفرځي که چيرته ده لره داوهم وي چې له ماښام څخه مخکې شايدبس يااورګاډى ونه دريږي ياخودريږي مګردلمونځ اداء کولوموقع په لاس رانه شي لکه چې ښځوته اکثردامشکل پيښيږي نوپه داډول حالت کې که داشخص دمازديګرلمونځ په مثل ثانى کې وکړي نوبايدچې جائزشي خصوصادهغوعلماوپه نزدکوم چې دصاحبينوقول مفتى به ګڼي لکه څرنګه چې حضرت مفتى رشيداحمدلدهيانوي دحرمين شريفين دفضليت دحاصلولوپه خاطرپه مثل ثانى کې دمازديګردلمانځه په جماعت سره داداءکولوفتواورکړي ده اوپه فتاوى محموديه کې راغلي دي چې په حرمينوشريفينوکې داحنافودعلماو عمل پرهمدې دول دى اوپه محموديه کې دوهم ځاى ليکل شوي دي اوپه همدې وخت (مثل ثانى)کې داداء شوي لمانځه (دمازديګردلمانځه)اعاده لازمه نه ده .(احسن الفتاوى:٢/١٤٥. فتاوى محموديه :٥/٣٣٨،٣٤١)

ف :له زوال څخه لږمخکې چې کومه سايه وي هغې ته فئ ويل کيږي ولې چې داسايه له مغرب څخه دمشرق لورته راګرځيدلي ده ، دفئ زوال دمعلومولوطريقه داده چې اول بايدځمکه هواره کړاى شي چې په دې کې لوره ژوره پاته نشي بياپه همدې هواره ځمکه باندې يولرګى ښخ کړاى شي اوترکومه ځايه چې سايه رسيږي په هغه ځاى نښان ولګول شي نوترڅوچې له نشان لګول شوي ځاى څخه سايه کميږي نوداله زوال څخه مخکې وخت دى اوکله چې دلرګى سايه ودريږي نه کميږي اونه لويږي نودادقيام شمس وخت دى په دې وخت کې چې کومه سايه موجوده وي هغه فئ زوال اواصلي سايه ده اوله دې وروسته چې کله سايه دوهم لورته لويږي نودادزوال شمس علامت دى له دې وخت څخه دماپښين دلمانځه وخت شروع کيږي والتفصيل في الشامية:١/٢٦٥)

(۳) والعصر منه اى ووقت العصر من بلوغ الظل كل شئ مثليه ،يعنى د مازديګر اول وخت دماپښين دوخت له ختميدلوڅخه وروسته شروع کيږي خواه که دماپښين وخت په دوه مثله ختميږي لکه څرنګه چې دامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دى اوخواه که په يومثل ختميږي لکه چې دصاحبينومذهب دى داودمازديګر اخرى

وخت ترلمرلويدوپورې دى ﴿لقوله ﷺ من أدرك ركعةً من العصر قبل أن تغرب الشمس فقد أدرك العصر﴾ (يعنى كه چاپوركعت له لمرلويدوڅخه مخكې وموندنو دعصروموندى) معلومه شوه چې دعصراخري وخت ترلمرلويدلوپورې دى.

ف: حسن ابن زياد رحمه الله له امام صاحب رحمه الله څخه نقل كوي چې كله دهرشي سايه يومثل شي نود ماپښين وخت ختميږي مگرترڅوچې دهرشى سايه دوه مثله نه شي دمازديگروخت نه داخليږي ددي روايت مطابق دماپښين او مازديگر دوختونوپه منځ كې وخت مهمل دى لكه چې دظهراوفجرپه منځ كې وخت مهمل دى په داسې حال كې چې علامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله فرمائي چې په دي روايت كې له خروج وخت څخه هغه وخت مختارمراددى كوم چې بې له څه شک اوشبهې څخه معمول به دى لماقال: فلعل المرادبخروج وقت الظهرخروج وقتها المختار المعمول به بلادغدغة (فتح الملهم باب اوقات الصلوة الخمس: ۲/۳۰۵)

(۴) وَالْمَغْرِبِ مِنْهُ إِلَى غُرُوبِ الشَّفَقِ وَهُوَ الْبَيَاضُ (۵) وَالْعِشَاءِ وَالْوِتْرِ مِنْهُ إِلَى الصُّبْحِ وَلَا يُقَدِّمُ عَلَى الْعِشَاءِ لِلتَّرْتِيبِ (۶) وَمَنْ لَمْ يَجِدْ وَقْتَهُمَا لَمْ يَجِبَا

ترجمه: اودمغرب وخت له لمرلويدوڅخه دشفق ترلويدوپورې اوهغه سپين والى دى، اودعشاء اووترووخت له غروب شفق څخه ترسهاره دى اووتردې نه مخته كوي پرعشاء دترتيب له كبله، اوكوم شخص چې ونه موندي دعشاء اووترووختونوپرده دادواړه واجب نه دي.

تشريح: (۴) قوله والمغرب عطف على العصر اى اول وقت المغرب من غروب الشمس الخ، دماښام اول وخت له لمرلويدلوڅخه وروسته شروع كيږي كماقال ﷺ وصلى بى المغرب حين غاب الشمس (يعنى جبريل عليه السلام ماته دماښام لمونځ راكړپه داسې وخت كې چې لمرلويدلى وو) دماښام په اول وخت كې دهيڅ اختلاف نشته بلكې اټول ائمه پردي متفق دي چې له لمر لويدلوڅخه وروسته شروع كيږي اودماښام اخري وخت تردې وخته دى چې ترڅوشفق نه وي ورک شوى، دامام شافعي رحمه الله په نزددماښام وخت صرف دومره دى په څومره اندازه وخت كې چې ته اودس، اذان، اقامت اوپنځه ركعته لمونځ اداء كړاى شې.

دشفق په باره كې دائمه و اختلاف دى دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدشفق هغه سپين والى دى چې له سوروالى څخه وروسته داسمان پرڅنډوراځي همداقول دحضرت صديق اكبر، حضرت معاذ، حضرت انس، اوحضرت زبير رضي الله عنه دى دصاحبينو رحمهما الله په نزدله سپين والى څخه مخكې دسوروالى نوم شفق دى دصاحبينودليل دنبى كريم ﷺ داارشاددى، الشفق هوالحمرة (چې شفق سوروالى دى) دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل هغه روايت دى كوم چې حضرت ابوهريرة رضي الله عنه روايت كړى دى ﴿ان النبى ﷺ قال وآخر وقت المغرب إذا اسود الأفق﴾ (دماښام اخري وخت چې كله افق تورشي) اوښكاره خبره ده چې پرافق توروالى له سپين والي څخه وروسته راځي نوثابته شوه چې ترسپين والى پورې دماښام وخت شته.

ف: دمفتى به قول مطابق دشفق احمرپه غروب سره دماښام وخت پاى ته رسيږي اودماخستن وخت شروع كيږي دامام ابوحنيفه رحمه الله اخرى قول هم همدادى اوائمه ثلاثه هم دهمدي قائل دي قال فى شرح التنوير (و) وقت (المغرب منه الى) غروب (الشفق وهوالحمرة) عندهماوبه قالت الثلاثة واليه رجع الامام كمافى شروح المجمع وغيرهافكان هوالمذهب، وقال ابن عابدين رحمه الله (قوله واليه رجع الامام) اى الى قولهماالذى هورواية عنه ايضا.......لكن تعامل الناس اليوم فى عامة البلادعلى

قولهماوقدأيده في النهر تبعاللنقاية والوقاية والدرر والاصلاح ودررالبحار والامدادوالمواهب وشرحه البرهان وغيرهم مصرحين بأنه عليه الفتوى.(الدرالمختارمع ردالمحتار:١/٢٦٥)

ف:احتياط دادی چې دماښام لمونځ دسوروالی له ختميدلوڅخه مخکې اداء شي اودماخستن لمونځ دسپين والی له ختميدلوڅخه وروسته اداء شي ځينې خلک له لمرلويدلوڅخه شل پنځه ويشت منټه وروسته دماښام وخت وتلی ګڼې ځينې وختونه په بس ياګاډی کې څه ناوخته شي نولمونځ نه کوي مګرحقيقت دادی چې دماښام وخت دموسم اوعلاقوپه اعتبارسره لږاوډيروي تردي اندازي چې په ځينوعلاقوکې يوساعت اوپه ځينوکې ترساعت لاهم زيات وخت وي په دي وجه ښه داده چې ددائمې نقشې مطابق لمونځ اداکړای شي .(فتاوی عثمانی:١/٣٦١)

(٥)قوله والعشاء والوترای اول وقت العشاء والوترمن غروب الشفق ،دعشاء اول وخت دشفق له پټيدلوڅخه وروسته شروع کيږي كماقال ﷺ وصلى بى العشاءحين غاب الشفق (يعنی حضرت جبريل عليه السلام ماته دماخستن لمونځ راکړکله چې شفق غائب شو)دعشاء اخری وخت ترڅوچې سهارنه وي راختلی ولی چې دعشاء داخری وخت په باره کې له نبی کريم ﷺ څخه مختلف روايات مروی دي يوروايت دادی چې ده ترثلث الليل پوري دعشاء لمونځ مؤخرکړ،يوروايت دادی چې ده ﷺ ترنيمې شپې دماخستن لمونځ مؤخرکړ،يوروايت دادی چې ده دشپې ددوحصوترتيريدلوپوري دماخستن لمونځ مؤخرکړنوددي رواياتوله مجموعې څخه ثابتيږي چې ټوله شپه دماخستن دلمانځه وخت دی .

ف:دنبی کريم ﷺ داحديث چې امنی جبريل عليه السلام عندالبيت مرتين الخ دايواوږدحديث دی بنده داتقسيم کړاو دمختلفو وختونودليل په ډول يې وراندي کړټول حديث يې يوځای ذکرنه کړڅه حصې يې پاته شوي .

دوترپه اول وخت کې اختلاف دی څرنګه چې دصاحبينوپه نزددماخستن له لمانځه څخه وروسته دوتروخت شروع کيږي اودفجرصادق ترطلوع پوري وي اودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدچې دماخستن دلمانځه کوم وخت دی هغه دوتروخت دی دصاحبينودليل دنبی کريم ﷺ داارشاددی فصلوهامابين العشاء الى طلوع الفجر(يعنی وتردماخستن اوسهارپه منځ کې کوئ)دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادی چې وترعملافرض دي اوقاعده داده چې کله دوه واجب لمونځونه سره جمع کړي نوداوخت دواړولمونځونو وخت وي لکه چې قضاء شوي اووختي لمونځونه .

ف :دامام ابوحنيفه رحمه الله قو ل راجح دی مګرپرامام ابوحنيفه رحمه الله دااعتراض دی چې بيادوترو تقديم پرعشاء ولی جائز نه دی ؟ ځواب:په وترواوعشاء کې ترتيب واجب دی چنانچه که چيرته وترقصدا دماخستن ترلمانځه مخته اداکړای شول نوبالاتفاق دوترواعاده لازمه ده اوکه په هيره سره داسي وشول نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددوترواعاده نشته ولی چې هيره ترتيب ساقطوي لمافي شرح التنوير(و)وقت (العشاء والوترمنه الى الصبح و)لكن (لا)يصح ان (يقدم عليهاالوتر) الاناسيا(لوجوب الترتيب) لانهمافرضاعندالامام ،قال ابن عابدين رحمه الله لكن العشاءقطعى والوترعملى(ردالمحتار:١/٢٦٦)

ف:دااختلاف مبنی دی دوترد صفت پراختلاف باندي دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدوترواجب دي نودوی له ماخستن سره يوځای والی داسي دی لکه ددوفرضولمونځونوپه يوه وخت کې يوځای والی لکه دقضاء

شويا او وختي لمونځونو په يوه وخت کې يوځاى والى او دصاحبينو په نزد وترسنت دي له ماخستن وروسته مشروع دي نودوئ دعشاء وروسته ددوو سنتونو په څيردي ،اصح داده چې وترواجب دي لمالى فرح التنوير (هوفرض عملاوواجب اعتقادا وسنة ثبوتا) (الدر المختار على هامش ردالمحتار: ۱/۴۹۰)

(۶) قوله ومن لم يجدوقتهما اى من لم يجدوقت الوتر والعشاء، يعني كه څوک په يوه داسي وطن کې اوسيږي چې په هغه کې ده ته دعشاء اووترووخت ورپيدانه شي په دي وجه چې له لمرلويدوسره سمدستي صبح صادق راختلو مثلا بلغارية وغيره کې، چې هلته ديخنى په موسم کې څلويښت ورځي همداشان وي نوپردي شخص دادواړه لمونځونه فرض نه دي ولى چې ده په حق کې سبب وجوب يعني وقت نشته .

ف: مروى ده چې دبلغاريه په باره کې شمس الائمة حلوانى ته استفتاء راغله چې هلته ديخنى په موسم کې دماخستن وخت نه وي نو دهغه ځاى داوسيدونكو لپاره دماخستن دلمانځه څه حکم دى ؟علامه حلوانى ځواب ورکړچې هغه خلک به دماخستن دلمانځه قضاء راوري ،بيادا استفتاء په خوارزم کې شيخ كبيرسيف الدين بقالي ته راغله هغه ځواب ورکړچې دهغه ځاى په خلكو دماخستن لمونځ واجب نه دى ،بيادا ځواب علامه حلوانى ته ورسيدوهغه علامه بقالي ته يوكس ورولېږوچې دخوارزم په جامع مسجدکې دعام مجمع په مخ کې له علامه بقالي څخه داپوښتنه وکړه چې كه كوم شخص له پنځو لمونځونو څخه يوساقط کړي اودڅلورودفرضيت قائل وي نواياداشخص كافردى اوكه مسلمان ؟ قاصدولاړى اوهمداشان سوال يې وکړ،علامه بقالي پوه شواوويې فرمايل دداسي کس په باره کې به څه وايې چې لاسونه يې له څنګلوسره پري شوي وي نواياده داودسه فرض څلوردي اوكه دري ؟هغه وويل دري ولى چې دڅلورم فرض محل فوت شوى دى علامه بقالي وويل همداحكم دپنځولمونځونوهم دى ،قاصدعلامه بقالي داځواب علامه حلوانى ته ورساوو دهغه ډيرخوښ شواودموافقت اعلان يې وکړ.

ف: مګرمفتى به قول دفرضيت دى لكه چې صاحب دفتاوى حقانيه ديوسوال په ځواب کې ليكلي دي : چيرته چې دلمردنه لويدلوله كبله دشپي اوورځي فرق كول ناممكن وي نودنژدي هيوادونو دوختونوداعتباركولوسره په څلورويشت ساعتونو کې دپنځو لمونځونواهتمام كول ضروري دى ،اوكه چيرته دسفرپه حالت کې (مثلاطياره دمغرب په لورروانه وه) وقت اوږدشي مګردلمر لويدل ممکن وي نوبيادلمرپه لويدوكې ځنډله كبله دلمانځه په وختونوڅه نه اثرنه پريوځي ،قال الحصكفي:(وفاقدوقتهما) كبلغار فان فيهايطلع الفجرقبل غروب الشفق في اربعينه الشتاء مكلف بهمافيقدرلهماولاينوى القضاء لفقدوقت الاداء به افتى البرهان الكبير واختاره الكمال وتبعه ابن شحنه في الغازه فصححه فزعم المصنف انه المذهب (الدر المختار على هامش ردالمحتار: ۱/۳۶۲) (حقانيه: ۳/۳۷)

(۷) وَنُدِبَ تَأْخِيرُ الْفَجْرِ وَظُهْرِ الصَّيْفِ (۸) وَالْعَصْرِ مَالَمْ تَتَغَيَّرِ الشَّمْسُ (۹) وَالْعِشَاءِ إِلَى الثُّلُثِ (۱۰) وَالْوِتْرِ إِلَى آخِرِ اللَّيْلِ لِمَنْ يَثِقُ بِالْإِنْتِبَاهِ (۱۱) وَتَعْجِيلُ ظُهْرِ الشِّتَاءِ وَالْمَغْرِبِ (۱۲) وَمَا فِيهِمَا عَيْنٌ يَوْمُ غَيْمٍ وَتَأْخِيرُ غَيْرِهِ فِيهِ

ترجمه :اومستحب ده تاخيره فجراوپه ګرمى کې دظهر،اودعصرترڅوچې لمرمتغيرنه شي اوعشاء ترثلث دشپي پوري، اووترتراخردشپي پوري دهغه شخص لپاره چې ده لره اعتمادوي په راويښيدلو، او(مستحب ده) وختي اداكول دژمى دماپښين اودماښام، اوهغه لمونځونه چې په هغوئ کې عين دى دوريځې په ورځ ،اوپه تاخيرسره دي اداء كړي له دي ماسوانورلمونځونه په دي ورځ.

تشريح :کله چې مصنف رحمه الله دمطلق وختونوله بيان څخه فارغ شونواوس يې دکامل وخت (يعنی مستحب)وختونوپه بيان شروع وکړه .

(۷)داحنافوپه نزددسهارلمونځ په اسفار(رڼا)کې شروع کول اوپه اسفارکې ختمول مستحب دی ﴿لقوله ﷺ اسفروابالفجرفانه أعظم للأجر﴾(يعنی دسهارلمونځ په اسفارکې اداء کوئ په دي وجه چې هغه دثواب په اعتبارسره اعظم دی)اوهمدارازپه اسفارفجرکې دتکثيرجماعت فائده هم شته .

ف:داسفارحددادی چې له سپين والی خپريدلووروسته په قرأت مسنونه سره لمونځ شروع کړای شي بياکه له فراغت وروسته ته داوداسه فسادښکاره شي نواودس وکړای شي اوله لمرختلوڅخه مخکې دسهارلمونځ اداء کول په داسي ډول سره ممکن وي چې له په هغه کې له ټلوينتوڅخه بياترشپيتوپوري ايتونه په ارام سره وويل شي لمافی العلاية:بحيث يرتل اربعين اية ثم يعيده بطهارة لوفسد(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۱/۲۶۹)

ف:داسفارحکم دنارينه ولپاره دی دښځولپاره ښه داده چې په تياره کې لمونځ اداء کړي ولی چې په دي کې ددوئ لپاره سترپوشي ډيره ده اوله فجرڅخه ماسواپه دانورولمونځوکې داانتظارکوي ترڅونارينه له جماعت څخه فارغ شي لمافی شرح التنوير :فالتغليس افضل کمرأة مطلقاوفی غيرالفجرالافضل لهاانتظارفراغ الجماعة (ردالمحتار:۱/۲۶۹)

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدپه هرلمانځه کې تعجيل افضل دی لحديث ام فروة رضي الله عنها قالت سئل رسول الله ﷺ ای الاعمال افضل قال الصلوة فی اول وقتها(يعنی له نبی کريم ﷺ څخه يوچاپوښتنه وکړه چې په اعمالوکې کوم عمل غوره دی نبی کريم ﷺ ارشادوفرمايوچې په لمونځ په اول وخت کې اداء کول).

قوله والظهرالصيف ،يعنی دماپښين لمونځ دګرمی په موسم کې په يخنی کې اداء کول مستحب دي ﴿لرواية انس رضي الله عنه قال کان النبی ﷺ اذاکان فی الشتاء بکربالظهرواذاکان فی الصيف ابردبها ﴾ (يعنی نبی کريم ﷺ کله چې به ديخنی موسم وونودماپښين لمونځ به وختی کاوه اوکله به چې دګرمی موسم وونوپه يخنی کې به يې اداء کاوو)داحکم دمنفرداوپه جمع سره دلمانځه اداء کونکې دواړولپاره برابردی اودګرم اويخ دواړه قسمه هيوادانولپاره دی مګردتاخيراندازه داده چې لمونځ دهرشی سايه له يومثل کيدلوڅخه مخکې اداء کړای شي .

(۸)قوله والعصرمالم تتغيرالشمس ای وندب تاخيرالعصرمالم تتغيرالشمس ،يعنی دعصرلمونځ په هرموسم کې په تاخيرسره اداء کول مستحب دي په دي شرط چې لمرمتغيرنه شي ولی چې که دعصرلمونځ په تاخيرسره اداء کړای شي نودعصردلمانځه څخه مخکې دډيرنوافلوداداء کولوګنجائش وي اودلمانځه په اول وخت کې له اداء کولوڅخه تکثيرنوافل افضل دی .

ف:دلمرله تغيرڅخه مراددلمردټکی متغيرکيدل دی يعنی چې لمرپه داسي حال کې شي چې ده ته دکتونکې سترګې خيره نشي بلکه دکتونکې نظرپه لمرباندی يوځای شي ،اولمرپه هغه وخت کې متغيروي چې کله چې لمرله لويدوڅخه ديوي نېزې څخه په لړه فاصله کې وي اوکه ديوي نيزي په اندازه ولاړوونومتغيرنه دی ،دځينوحضراتورأيه داده چې له تغيرشمس څخه مرادپه ديوالونوچې دلمرکومه رڼاپريوځي هغه متغيره شي

مګرداصحیح نه ده ولې چې داخوله زوال څخه وروسته شروع کیږي لمافي التنویروشرحه: مالم یعتبر ذکاء بان لاتحار العین فیهافي الاصح ,قال ابن عابدین وفي الظهیریة ان امکنه اطالة النظر فقد تغیرت وعلیه الفتوی (الدرالمختار مع الشامیة: ۱/۲۷۰)

(۹) قوله والعشاء الی الثلث عطف علی العصر ای ندب تاخیر العشاء الی الثلث ، یعني دعشاء لمونځ تردریمې حصې دشپې پورې مؤخرکول مستحب دي لقوله ﷺ ﴿لولا أن أشق علی أمتي لأخرت العشاء إلی ثلث اللیل﴾ (یعنی که دامت لپاره شاق نه وای نومابه دعشاء لمونځ ترثلث لیل پورې مؤخرکړی وای).

ف :دعشاء لمونځ ترنصف لیل پورې مؤخرکول مباح دي اوله نیمای څخه زیات مکروه تنزیهي دي اوهمداراز ترثلث لیل پورې مؤخرکول دیخنی دموسم حکم دی دګرمې په موسم کې وختي کول مستحب دي لمافي شرح التنویر: (و) تاخیر (عشاء الی ثلث اللیل) قیده في الخانیة وغیرها بالشتاء اما الصیف فیندب تعجیلها (فان اخرها الی مازاد علی النصف) کره لتقلیل الجماعة اما الیه فمباح وفي الشامیة (قوله کره) ای تحریما..........اوتنزیها وهوالاظهر کماذکره عن الحلیة (الدرالمختار مع ردالمحتار: ۱/۲۷۰)

(۱۰) والوتر الی اخر اللیل الخ ای ویستحب تاخیر الوتر الی اخر اللیل ،یعنی چاله چې دتهجد دلمانځه دکولو عادت وي اوده له سهار څخه مخکې په راویښیدلو اعتماد وي نودلره مستحب دادی چې وتر له تهجد څخه وروسته دشپې په اخیرکې وکړي او چاله چې له سهار څخه مخکې په راوریښیدلو اعتماد نه وي نوهغه دې له ویده کیدلو څخه مخکې وتروکړي لقوله ﷺ ﴿من خاف ان لایقوم آخر اللیل فلیوتر اول اللیل ومن طمع ان یقوم آخر اللیل فلیوتر آخر اللیل﴾ (یعنی چاله چې ویره وي چې دشپې په اخرنی حصه کې نشم راویښیدلی نوهغه دې په اول دشپې کې وتروکړي او چاله چې امید وي چې دشپې په اخرنی حصه کې راویښیدلی شم نوهغه دې دشپې په اخرنی حصه کې وتروکړي).

ف:دتهجد وخت دماخستن له لمانځه څخه وروسته تول شپه ده مګردتهجد لپاره ویده کیدل ضروري دي یعنی ویده کیږي به اوراویښیږي به اوبیابه تهجد کوي بیاهم له ویده کیدلو څخه مخکې په نفل کولوسره دصلوة اللیل اوقیام اللیل ثواب حاصلیږي نه دتهجد ،البته که دستړیاله کبله اویاتر دیره دمطالعې کولوله یاغیره کې دمصروفیت له امله دتهجد لپاره دنه راویښیدلو خطره وي نوله ویده کیدلو څخه مخکې دې دتهجد په نیت سره نفل وکړي اوبیادي دتهجد په نیت سره ویده شي ان شاء الله دتهجد ثواب به حاصل شي .(والتحقیق فی الشامیة: ۱/۵۰۶، واحسن الفتاوی ،۳/۴۶۸)

(۱۱) قوله وتعجیل ظهر الشتاء الخ عطف علی قوله تاخیر الفجر ای وندب تعجیل ظهر الشتاء الخ ،یعنی دظهر لمونځ دیخنی په موسم کې وختي اداء کول مستحب دی ﴿لروایة انس ؓ قال کان النبي ﷺ اذا کان في الشتاء بکر بالظهر واذا کان في الصیف ابردبها﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ کله چې به دیخنی موسم وو نودماپښین لمونځ به یې وختي اداء کاوو او کله چې به دګرمی موسم وو نودماپښین لمونځ به یې په یخنی (یعنی ناوخته) اداء کاوو ، همداشان دمغرب په لمانځه کې تلوارکول مستحب دي لقوله ﷺ لایزال امتي بخیر ماعجلوا المغرب واخروا العشاء (یعني زما امت به همیشه په خیروي ترڅوچې دمغرب لمونځ وختي اداء کوي اودعشاء لمونځ ناوخته اداء کوي).

ف: دمغرب داحکم په هره زمانه کې دی البته که وریځ وه نوبیامؤخرکول مستحب دی ترڅوچې په غالب ګمان سره دلمر دلویدلو یقین راشي لکه څرنګه چې دامسئله وړاندې په متن کې راروانه ده ،همدارازبه

په رمضان کې که لوږه وي او دودی تیاره وي نو بیا په لس پنځلس منټه تاخیر کولو کې څه مضائقه نشته په دي وجه چې داتاخیر به زیات سې زیات مکروه تنزیهي وي او دلوږې په حالت کې چې دودی تیاره وي لمونځ کول مکروه تحریمی ده لهذا بایدله خوراک څخه فارغه شي اوپه اطمینان اوفراغ قلب سره لمونځ اداء کړل شي لمالي شرح التنوير: (و) اخر (المغرب الى اشتباک النجوم) اى كثرتها (كره) اى التاخير لا الفعل لانه مامور به (تحريما) الابعذر كسفر وكونه على اكل: قال ابن عابدين: (قوله وكونه على اكل) اى لكراهة الصلوة مع حضور طعام تميل اليه نفسه ولحديث اذا اقيمت الصلوة وحضر العشاء فابدؤا بالعشاء رواه الشيخان (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۱/۲۷۱)

قوله ومافيهاعين الخ اى وتعجيل صلوة التى فيهاعين ،يعنى هرهغه لمونځ چې دهغه په نامه کې عين وي (يعنى عصراوعشاء) دوريځ په ورځ په هغه کې تعجيل مستحب دى په عصرکې دتعجيل وجه داده چې په تأخيركولوسره دعصرپه مكروه وخت کې دواقع كيدلوخطره ده ولى چې دعصراخري وخت مكره دى اوپه عشاء کې دتعجيل وجه داده چې دوريځ په ورځ په تأخير كولوسره په جماعت کې كموالى راځې ولى چې دباران له امله خلک سستي كوي له دي دوولمونځونوماسواپه نورو لمونځونوکې دوريځ په ورځ تاخيركول مستحب دي ولى چې دفجروخت طويل دى لهذا دطلوع افتاب په وخت دلمانځه دواقع كيدلووهم نشته اوپه ظهراومغرب کې تاخيرپه دي وجه مستحب دى چې په وختي اداء كولوسره يې له وخت څخه مخكې داداء كيدلوامكان دى لهذا تاخيرمستحب دى

ف:مگردوريځ په ورځ په ځينولمونځونوکې تلواركول اوپه ځينوکې دځنډكولواستحباب نن صبانشته دادمخكنى زمانې خبره وه ولى چې نن صبادلمونځونووختونه په دائمې نقشواوګړيانوسره متعين دي نن صبادوريځ په ورځ هم داخطره نشته چې كوم لمونځ به له وخت څخه مخكې اداء شي يابه له خپل وخت څخه موخرشي.

(۱۳) وَمُنِعَ عن الصَّلَاةِ وَسَجدَةِ التِّلَاوَةِ وَصَلَاةِ الْجنَازَةِ عِنْدَ الطُّلُوعِ وَالِاسْتِوَاءِ وَالْغُرُوبِ (۱۴) إِلَّاعَصْرَ يَوْمِهِ (۱۵) وَعَنْ التَّنَفُّلِ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَالْعَصْرِ (۱۶) لَا عن قَضَاءِ فَائِتَةٍ وَسَجدَةِ تِلَاوَةٍ وَصَلَاةِ جِنَازَةٍ (۱۷) وَبَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ بِأَكْثَرَ من سُنَّةِ الْفَجْرِ وَقَبْلَ الْمَغْرِبِ وَوَقْتَ الْخُطْبَةِ (۱۸) وَعَنْ الْجَمْعِ بين صَلَاتَيْنِ في وَقْتٍ بِعُذْرٍ

ترجمه،اومنع كړل شوى ده له لمانځه څخه ،له سجده تلاوت څخه اوله لمانځه دجنازي څخه دطلوع افتاب په وخت، داستواء اوغروب افتاب په وخت ،مګرددغي ورځي دعصرلمونځ ،له نفل كولو څخه دفجراوعصرله لمانځه وروسته ،نه له قضاء لمانځه څخه اوله سجدة تلاوة اودجنازي له لمانځه څخه ، او(منع شوي ده)له طلوع فجروروسته دوه ركعته سنت فجرڅخه له زياتو څخه اوله مغرب څخه مخته اودخطبي پروخت ،او(منع شوي ده)ددوو لمونځونوپه يووخت له جمع كولو څخه ديوعذرله كبله ،)

تشريح،(۱۳)يعنى دطلوع افتاب پروخت اودزوال افتاب پروخت اودغروب پروخت دفرض لمانځه له كولو څخه منع راغلي ده ﴿ لحديث عقبة بن عامر ﷺ ثلاث أوقات نهانا رسول الله ﷺ أن نصلي فيها وأن نقبر فيها موتانا عند طلوع الشمس حتى ترتفع وعند زوالها حتى تزول وحين تضيف للغروب حتى تغرب ﴾ (يعنى دري وختونه دي په كوموكې چې موږته دلمانځه له اداء كولواودخپلو مړوله دفن كولو څخه نبى كريم ﷺ ممانعت فرمايلى دى يووخت دطلوع افتاب دى ترڅوچې لوړشي اودوهم وخت دزوال افتاب دى ترڅوچې زائل شي اودريم وخت دغروب افتاب دى

ترڅوچې غروب راشي) همداشان دجنازي لمونځ هم په دي وختونو کې جائزنه دی په دي شرط چې جنازه له دي وختونو څخه مخکې حاضره شوي وي اوکه په همدي وخت کې جنازه حاضره شوه نوجائزده اوسجده تلاوت څرنګه چې دلمانځه په معنی ده په دي وجه په دي وختونو کې سجدة تلاوت هم جائزنه ده .

ف:سجده تلاوت اودجنازي لمونځ په دي وختونو کې هغه وخت مکروه ده چې ایت سجده له دي وخت څخه مخکې تلاوت کړل شوي وي اوجنازه مخکې حاضره شوي وي اوکه په همدي وختونو کې تلاوت شوه اوي جنازه حاضره شوه نوجائزده لمافی مجمع الانهر:واماالمتلوة اوالحاضرة فیهالایکره ای تحریمالانهاوجبت ناقصة ادیت فیهاکماوجبت (مجمع الانهر:1/72) مګرېیاهم سجدة تلاوت ترمستحب وخته موخرکول افضل دي ولی چې په تاخیرسره سجده نه فوت کیږي ،

ف:سجده شکرپه دي وختونو کې اداء کول مکروه نه دي ولی چې سجده شکرله اوله څخه واجب نه ده چې داوویل شي چې کامل واجب په ناقص اداء سره نه اداء کیږي ،هوله لمانځه وروسته سجده شکربالاجماع مکروه ده لکه څرنګه چې په عوامو کې رواج ده ولی چې خلک داواجب یاسنت ګڼي اوحال داده چې داسي نه ده اوقاعده ده چې هرهغه جائز عمل چې اعتقادوجوب یاسنیت ته مفضي وي هغه مکروه ده لمافی الشامیة :واماما یفعل عقب الصلوة من السجدة فمکروه اجماعالان العوام یعتقدون انهاواجب اوسنة اه ای کل جائز أدی الی اعتقادذالک کره (ردالمحتار:1/273)

(۱۴)لیکن له پورته ذکرشوي قاعدي (یعنی دلمردلویدلوپه وخت کې دلمانځه دممانعت له قاعدي)څخه دهمدي ورځې دعصرلمونځ مستثنی دی یعنی که چادعصرلمونځ نه وي کړی تردي چې دغروب وخت شونوداشخص ددغی ورځې دعصرلمونځ دغروب افتاب پروخت اداء کولی شي ولی چې ددغي ورځې لمونځ ناقص واجب شوی دی په دي وجه چې دوجوب سبب دلمانځه داداء کولووخت دی اودعصرپه اخیروخت کې لمونځ کول منع ده لهذاپه دي وخت کې به دلمانځه وجوب هم ناقص وي نوله نقصان سره په اداء کولوهم اداء کیږي مګربل لمونځ یادبلي ورځې دعصرلمونځ په دي وخت کې اداء کول جائزنه دي ولی چې کوم لمونځ کامل واجب شي نودهغه ناقص اداء کول جائزنه دي .

(۱۵)قوله وعن التنفل ای ومنع ابضاعن العفل الخ،یعنی له فجرڅخه وروسته نفل کول مکروه دي ترڅوچې لمراوخیژي اوله عصرڅخه وروسته نفل کول مکروه دي ترڅوچې لمرولویږي ﴿لحدیث ابن عباس ﷺ ان رسول الله ﷺ نهی عن الصلوة بعدالصبح حتی تشرق الشمس وبعدالعصرحتی تغرب﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ له سهارڅخه وروسته له لمانځه څخه منع وفرمایله ترڅوچې لمرروښانه شي اوله عصرڅخه وروسته ترڅوچې لمرولویږي).

(۱۶)قوله لاعن قضاء ای لایمنع فی هذین الوقتین عن قضاء ،یعني په دي دوو وختونو کې دقضاء لمونځو نو ،سجده تلاوة اوجنازي په کولو کې څه مضائقه نشته ولی چې په دي دوو وختونو کې کراهت دفجراو عصر دلمانځه له کبله وو ترڅوچې تول وخت دهمدي وخت په فرضوباندي مشغول شي نوڅرنګه چې کراهت دحق فرض له امله وو نه حقیقتاپه فرضودمشغول والی له امله ،اوڅرنګه چې په قضاء وغیره کې حقیقتاپه فرضوباندي مشغول والی دی لهذاپه حقیقتا فرضوکې دمشغول کیدلوپه حق کې به کراهت دفرضودحق له کبله ښکاره نه شي ولی چې وخت حقیقتاپه فرضومشغول کول(یاپه هغه چې دواجب لعینه والی له امله

دفرضوپه معنى وي لكه سجده تلاوة).اولى دي ترمشغول كولو دوخت په حق فرض سره ،همداشان دجنازي لمونځ هم دى كه جنازه په دي وخت كې حاضره شي كمامر.

(۱۷)قوله وبعدطلوع الفجر عطف على قوله بعدصلوة الفجر اى منع عن التنفل الخ،يعنى له طلوع فجرڅخه وروسته دفجرله دوور كعتوسنتوڅخه علاوه نورنوافل كول مكروه دي ولى چې له نبى كريم ﷺ سره له دي چې په لمانځه حريص وو څخه له دي دوو ركعتونوزيات ثابت نه دي نوترك مع الحرص دكراهت دليل دى ،همداشان له غروب افتاب څخه وروسته دمغرب ترلمانځه مخته هم نفل كول مكروه دي ولى چې دنفلو دكولوله امله دمغرب دلمانځه تاخيرلازميږي اوحال داچې دمغرب په لمانځه كې تعجيل مستحب دى همداشان دجمعي دخطبي دويناوغيره په وخت كې نفل كول مكروه دي ولي چې استماع خطبه فرض ده اونفل كول له استماع خطبه څخه مانع دي .

(۱۸)قوله وعن الجمع بين الصلوتين اى ومنع ايضاعن الجمع الخ،يعنى دوه لمونځونه دكوم عذرله كبله په يو وخت كې يوځاى اداء كول ممنوع دي ولى چې حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي ﴿وَالَّذِي لَا إِلٰهَ غَيْرُهُ مَا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةً قَطُّ إِلَّا لِوَقْتِهَا إِلَّا صَلَاتَيْنِ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِعَرَفَةَ وَبَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ﴾ (يعنى په هغه ذات قسم چې له هغه ماسوا ځوک معبودنشته چې نبى كريم ﷺ هميشه پروخت لمونځ اداء كړى دى ماسواله دوو لمونځونوچې ظهراوعصريې په عرفات كې جمع كړل اومغرب اوعشاءيې په مزدلفه كې).

ف:دامام شافعى رحمه الله په نزددعذرمثلاباران، سفرياناروغى له امله ظهراوعصرجمع كول اومغرب اوعشاء جمع كول جائز دي ولى چې له نبى كريم ﷺ څخه دتبوك په سفركې دظهراوعصراومغرب اوعشاء جمع كول ثابت دي ،احناف داجواب وركوي چې په كوم ځاى كې چې دناروغى ياسفرله كبله له نبى كريم ﷺ څخه جمع بين الصلوتين ثابت دي نوهغه په جمع صورى باندي محمول ده نه پرجمع حقيقي ،جمع صوري داده چې يولمونځ مؤخركړي اوپه اخيروخت كې وكړي اودوهم لمونځ په اول وخت كې وكړي .

باب الأذان

داباب داذان په بيان كې دى .

اذان په لغت كې اعلام (خبرولو)ته ويل كيږي بيادلمانځه داعلان اواعلام لپاره غلبة استعمال شوپه همدي وجه چې كله هم داذان لفظ ويل كيږي نوله ده څخه مراددلمانځه اعلان وي اودشريعت په اصطلاح كې په خاصووختونوكې خاصوالفاظوسره خاص خبر(يعنى دلمانځه دوخت دداخليدوخبر) وركولوته ويل كيږي ،اذان كه څه هم په ځينووختونوكې دخبروركولولپاره نه وي مثلادجمعې په ورځ دخطيب په مخكې اذان دخبروركولولپاره نه وي مگرڅرنگه چې اكثراذان دخبروركولولپاره وي وللاكثرحكم الكل په بناء باندي وويل شول چې اذان مخصوص خبروركولوته ويل كيږي .

بيا دوختونو بيان داذان په بيان په دي وجه مخته كړاى شوچې وختونو اسباب دي او سبب پراعلام باندې مخته وي ولې چې اعلام دمعلم به دوجود خبروركوي نودخبروركولوڅخه مخكې دمخبربه يعنې دخول وخت وجودضروري دى ،اوهمداراز دوختونواثردخواصويعنى علماوپه حق كې دى اواذان دعواموپه حق كې اعلام دى اوخاص پرعام مخته وي په دي وجه مصنف دوختونوذكرمخته كړو.

(١٩) سُنَّ لِلْفَرَائِضِ (٢٠) بِلَا تَرْجِيعٍ وَلَحْنٍ (٢١) وَيَزِيدُ بَعْدَ فَلَاحِ أَذَانِ الْفَجْرِ الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ مَرَّتَيْنِ (٢٢) وَالْإِقَامَةُ مِثْلُهُ وَيَزِيدُ بَعْدَ فَلَاحِهَا قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ مَرَّتَيْنِ (٢٣) وَيَتَرَسَّلُ فِيهِ وَيَحْدُرُ فِيهَا (٢٤) وَيَسْتَقْبِلُ بِهِمَا الْقِبْلَةَ وَلَا يَتَكَلَّمُ فِيهِمَا (٢٥) وَيَلْتَفِتُ يَمِينًا وَشِمَالًا بِالصَّلَاةِ وَالْفَلَاحِ وَيَسْتَدِيرُ فِي صَوْمَعَتِهِ (٢٦) وَيَجْعَلُ إِصْبَعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ (٢٧) وَيُثَوِّبُ

ترجمه:اذان سنت دى دفرائضو لپاره ،بې له ترجيع او لحن څخه ،اوزياتوې دي له حى على الفلاح څخه وروسته دسهار په اذان كې الصلوة خيرمن النوم دوه ځله ،او اقامت داذان په شان دى بزياتوي دي په اقامت كې له حى على الفلاح وروسته قدقامت الصلوة دوځله ،او داذان كلمې دسوكه سوكه ويل شي اوتلواردي كوي په اقامت كې ،اوپه دواړوكې دي مخ پرقبله ودريږي اوخبري دي نه كوي په دواړوكې ،اوخپل مخ دي بنې اوكيڼ لورته ګرځوي په حى الصلوة اوحى الفلاح كې اوګرځي دي په اذان خانه كې ،او ايږدي دي دواړه ګوتې په غوږونوكې اوتثويب دي كوي .

تشريح :(١٩)اذان دفرائضو يعنى پنځولمونځونواوجمعې دلمانځه لپاره سنت موكده دى ولې چې داپه تواترسره ثابته ده چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم دپنځولمونځونواوجمعې دپاره اذان كولوحكم كړى دى اوله دي ماسوا دوترو ،عيدينو ،كسوف ،خسوف، استسقاء ،جنازي،سننواونوافلولپاره يې دآذان كولوحكم نه دى كړى جمعه په پنځولمونځونوكې داخله ده مكرداخترله لمانځه سره مشابه ده په دي وجه يې ددي نوم ذكركړترڅوچاته وهم پيدانه شي چې داخترونوپه څيرددي لپاره هم اذان نشته.

ف:دلمانځه څخه ماسواپه څونوروځايونوكې هم اذان مشروع دى (١)دنوي پيداشوي په غوږكې (٢)دغمجن كس په غوږكې (٣)كله چې دمرګي په مريض باندي مرګي عارض شي (۴)دغضب په وخت كې (۵)كله چې ديوانسان ياحيوان بدخلقى ښكاره شي (۶)دكفاروسره دجنګ په حالت كې (٧)كله چې شيطانان ښكاره شي اوويرول كوي (٨)دمسافردرخصتولوپه مهال (٩)كله چې مسافرپه يوځنګل كې لاروركه كړي ،البته مړى قبرته دداخلولوپه وخت كې اذان كول بدعت دى لمافى الشامية :قديسن الاذان لغيرالصلوة كمافى اذن المولود والمهموم والمصروع والغضبان ومن ساء خلقه من انسان اوبهيمة وعندمزدحم الجيش وعندالحريق وقيل عندانزال الميت القبرقياساعلى اول خروجه للدنيالكن رده ابن حجرفى شرح العباب وعندتغول الغيلان اى عندتمردالجن لخبرصحيح فيه اقول ولابعدفيه عندنا ......وزادابن حجرفى التحفة الاذان والاقامة خلف المسافرقال المدنى اقول وزادفى شرعة الاسلام لمن ضل الطريق فى ارض قفراى خالية من الناس (ردالمحتار:١/٢٨٣)

(٢٠)زموږپه نزدپه اذان كې ترجيع نشته ،ترجيع داده چې اول ځل شهادتين يعنى اشهدان لااله الاالله اواشهدان محمدارسول الله دوځله سوكه ووايې اوبيادوځله په لوړاوازسره وويل شي ،دادامام ابوحنيفه په نزدمسنون نه ده اودامام مالك اوامام شافعى په نزدپه اذان كې ترجيع سنت ده ددى دليل دحضرت ابومحذوره رضى الله عنه روايت دى چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم ده ته په همدې دول داذان

تعليم وركړى وو .زموږدليل داده چې حضرت بلال رضى الله عنه دنبى كريم صلى الله عليه وسلم په مخ كې دنبى كريم صلى الله عليه وسلم تروفات پورې په سفراوحضركې بې له ترجيع څخه اذان كاوو ،اودنبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرت ابومحذوره رضى الله عنه ته په دې ډول داذان تعليم وركول په دې وجه وو چې توحيداورسالت دهغه په ذهن كې كښيني ولى چې هغه له اذان څخه مخكې كافروو كومه چې هغه ترجيع وفهموله .

(۲۱)دسهار په اذان كې له حى الفلاح څخه وروسته دوه ځله د الصلوة خيرمن النوم اضافه كيږي ولى چې حضرت بلال رضى الله عنه دسهاردلمانځه دپاره اذان وكړپيادحضرت عائشه رضى الله عنه دحجرې دروازې ته راغى اوويې ويل الصَّلاةُ يا رَسُولَ اللهِ ،حضرت عائشه رضى الله عنهاوفرمايل إنَّ الرَّسُولَ نائِمٌ نوپه خواب كې حضرت بلال رضى الله عنه وويل الصَّلاةُ خيرٌ من النَّوم ،كله چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم بيدارشونوحضرت عائشه رضي الله عنها ده ﷺ ته خبروركړنبى كريم صلى الله عليه وسلم خوش كړاوويې فرمايل اى بلال داپه خپل اذان كې شامل كړه .

(۲۲)داحنافوپه نزداقامت هم داذان په شان دى البته صرف دومره فرق شته چې دهروخت په اقامت كې له حى الفلاح څخه وروسته به دوځله قدقامت الصلوة اضافه كوي ولى چې حضرت عبدالله بن زيد رضى الله عنه فرمايي چې مابين النوم واليقظة په حالت كې فرشته داقامت ويلوپه حال كې وليدله دكوم په اخركې چې هغې دقدقامت الصلوة اضافه وكړه .

ف:دامام شافعى رحمه الله په نزددشروع له تكبيره اوقدقامت الصلوة ماسوااقامت نورې كلمې يوځل ويل كيږي ولى چې مروى ده چې حضرت بلال رضي الله عنه ته داقامت دكلماتوديوځل ويلوحكم شوى وو ، احناف ځواب وركوي چې حضرت بلال رضي الله عنه ته دكلماتوديوځل حكم وركونكى مجهول دى معلومه نه ده چې څوك وو په دې وجه دادليل تام نه دى اوحال داده چې حضرت بلال رضي الله عنه دنبى كريم ﷺ په ژوندكې هم اودنبى كريم ﷺ له وفات وروسته هم هميشه داقامت كلماتې دوه دوه ځله ويلې.

(۲۳)په اذان كې ترسل (ددوكلموترمنځ له سكتې سره فصل كولوته ترسيل ويل كيږي)كوي اوپه اقامت كې به حدر(حدردادى چې په كلموكې به فصل نه وي)كوي ولى چې نبى كريم ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته امرفرمايلې وو ﴿ اذااذنت فترسل واذااقمت فاحدر﴾ (يعنى كله چې ته اذان كوې نوترسل كوه اوكله چې اقامت كوې نوحدركوه).

ف:بايديادوساتل شي چې په اذان كې ترسل اوپه اقامت كې حدركول مستحب دى لهذاكه په دواړوكې ترسل وكړي اويا په دواړوكې حدروكړي نوهم جائزده ولى چې مقصوديعنى اعلان اواعلام په دواړوصورتونوكې حاصليږي البته دترسل دپرېښودلوله امله اعاده مستحب ده لمافى الشرح التنوير(ويترسل فيه)بسكتة بين كل كلمتين ويكره تركه وتندب اعادته (ردالمحتار:۲۵۸/۱)

(۲۴)داذان اوقامت په وخت كې به مخ پرقبله درېږي ولى چې له حضرت بلال رضي الله عنه څخه همدامتوارث ده ،اوهمداشان په اذان كې مناجات دى لهذادقبلې لورته مخ گرځول مناسب دي ،ليكن كه چااستقبال قبله ونه كړنوهم جائزدى ځكه چې مقصوداعلام دى كوم چې بغيرله استقبال قبلې څخه هم

حاصليږي البته دخلاف سنت له امله داسې كول مكروه دي، داذان اواقامت په منځ كې دخبري نه كوي ولې چې خبري كول مقصوديعنى اعلام ته مخل دي ،اوهمداراز اذان اوقامت ذكرمعظم دی نودخطبي په څيربايدپه دوئ كې هم تسلسل وي په منځ كې په يوبل كارمشغوليدل مناسب نه دي حال داچې دخبروكولوله كبله په كلماتوكې تسلسل اوموالات نه پاته كيږي .

(۲۵)كله چې حى الصلوة اوحى الفلاح ته ورسيږي نوصرف دي خپل مخ راسته اوچپ لورته گرځوي ولى چې په دي دووكلموسره قوم ته خطاب دی لهذاداخطاب به دوئ ته مخامخ كيږي چې لمانځه اوكاميابى ته راشئ اوهمداشان مخ راسته اوچپه لورته گرځول دخبرپه خپرولوكې ديرمؤثردی ، مگردمخ راسته اوچپه لورته په گرځولوكې به سينه اوپښې نه گرځوي ،صومعه دراهب خوني ته ويل كيږي دلته له دي څخه مؤذن خانه مراده ده ،نوكه مؤذن خانه غټه وه نوبياراسته اوچپ لورته په تگ كې څه حرج نشته ترڅوچې ددي له كړكيوڅخه خلگوته دٚاذان اواز ورسيږي كوم چې له گرځيدلوڅخه بغيرممكن نه دی.

(۲۶)اوخپلې دوي گوتې دي په غوږوكې كښيږدي ولی چې نبى كريم ﷺ حضرت بلال رضی الله عنه ته امركړي وو چې خپلې گوتې په غوږوكې كښيږده دااواز لوړه وي .

(۲۷)اوتثويب دي وايي ،تثويب له اعلان څخه وروسته دوهم اعلان ته وايي شرعاًدتثويب اطلاق په دووشيانوكيږي يوداچې دسهارپه اذان كې له حيعلتينوڅخه وروسته الصلوة خيرمن النوم ويل داتثويب دسهارپه اذان پسې خاص دی په نورولمنځونوكې جائزنه دی اودتثويب دوهمه معنى داذان اوقامت په منځ كې الصلوة جامعة ياحى على الصلوة يادديپه شان كومه بله جمله استعمالول ددي معنى په لحاظ سره تثويب ته اكثروعلماو بدعت اومكروه ويلې دي په دي وجه چې داشان تثويب په عهدرسالت كې ثابت نه دی البته له امام ابويوسف صاحب رحمه الله څخه منقول ده چې هغه دمشتغلين بالعلم لپاره داخوښوله چې له اقامت څخه مخكې دتثويب په ذريعه سره ياداوری وكړل شي ددي قول وجه داده چې په اصلاداقسم يادد‌هانى مباح وه ولى چې په نصوصوكې نه ددي امرشوى وو نه نهى . ليكن په بعضوعلاقوكې داتثويب دسنتوپه حيثيت سره رواج شونوعلماو ديته بدعت وويل ولی چې مجاهد رحمه الله له حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه نقل كړی دی چې هغه دلمانځه لپاره يومسجدته داخل شودهغه ځاى مؤذن تثويب وكړنوحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما له مسجد څخه ووتلواوويې ويل چې ماله دي بدعتى څخه بوځئ اوهلته يې لمونځ اداء نه كړ،زموږپه زمانه كې داقسم تثويب سوكه سوكه دبدعت اواحداث فى الدين باعث جوړيږي په دي وجه علماء له دي څخه منع كوي ،ليكن كه دضرورت په مواقعوكې داله سنت اوعبادت گڼلوڅخه بغيراختياركړای شي نومباح دی اوپه دي كې څه حرج نشته قال الشيخ محمدتقى العثمانى مدظله هذااعدل الاقوال فى ذالک ،څرنگه چې علامه شامى رحمه الله وغيره هم ليكلى دي چې دقاضى ،مفتى اوپه نوردينى كارونوكې دمشغولوكسانولپاره دتثويب گنجائش شته .

ف ،ځينې مقتديان داقامت په وخت لاس وتړي دريږي بناپې چې دوئ داسنت گڼي مگرداچيرې نه دي ثابت لهذادا په شريعت باندې زياتوالى دی په دي وجه مكروه ده ،همداشان ځورندلاسونه دتكبير تحريمه په وخت

کې غوږونو ته په ورلو کې چې څومره د احکم الحاکمین د عظمت شان اظهار دی د تړلو شو یو لاسونو په پورته کولو کې دومره نشته لهذا د اعمل پر ښځو دل او نورو ته د پرښو دلو تبلیغ کول لازم دی.

(۲۸) وَيَجْلِسُ بَيْنَهُمَا إِلَّا فِي الْمَغْرِبِ

ترجمه: او کښیني دې د دواړو په منځ کې (یعنی وقفه دې کوي) مګر نه په ماښام کې

تشریح: (۲۸) د اذان او اقامت په منځ کې دې په لږ وخت ناسته باندې فصل کوي وصل دې نه کوي ولې چې له اذان څخه مقصود خلګو ته د وخت د داخلیدلو خبرور کول دي تر څو چې هغوئ د لمانځه لپاره تیاري وکړي او مسجد ته راورسیږي نو په وصل کولو سره د امقصود فوت کیږي لهذا دومره اندازه فصل کول ضروري ده چې خلګ تیاري وکړي او مسجد ته راورسیږي البته د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د ماښام د اذان او اقامت تر منځ به فصل نه کوي بلکه د دریو کوچنیو ایتونو یا یوه لوی ایت په اندازه دې دولاړې په حالت کې سکته کوي ولې چې د ماښام په لمانځه کې تاخیر کول مکروه دي لهذا له تاخیر څخه خلاصیدلو لپاره لږ اندازه فصل کول هم کفایت کوي او د صاحبینو په نزد دې په ماښام کې هم لږ اندازه کښیني ولې چې وصل کول مکروه دي او په معمولی سکوت سره فصل نه راځي ولې چې سکوت خود اذان د کلماتو په منځ کې هم وي لهذا په لږ اندازه ناسته دې فصل کوي.

ف: د ا اختلاف په افضلیت کې دی لهذا که په لږ اندازه ناسته سره یې فصل وکړنو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد هم دا مکروه نه ده، مګر بیا هم د امام ابوحنیفه رحمه الله قول مفتی به دی لمافی الدر المختار (ویجلس بینهما) بقدر مایحضر الملازمون مراعیا لوقت الندب (الافی المغرب) فیسکت قائما قدر ثلاث آیات قصار ویکره الوصل اجماعا قال ابن عابدین (قوله فیسکت) هذا عنده وعندهما یفصل بجلسة کجلسة الخطیب والخلاف فی الافضلیة فلو جلس لایکره عنده (الدر المختار علی هامش الشامیة ۱/۲۸۷:)

(۲۹) وَيُؤَذِّنُ لِلْفَائِتَةِ وَيُقِيمُ (۳۰) وَكَذَا الْأُولَى الْفَوَائِتُ وَخُيِّرَ فِيهِ لِلْبَاقِي (۳۱) وَلَا يُؤَذِّنُ قَبْلَ وَقْتٍ وَيُعَادُ فِيهِ

ترجمه: او اذان دې کوي د قضاء لمانځه لپاره او اقامت دې کوي، او همدا شان د اول قضاء شوی لمانځه لپاره او په نورو کې اختیار لري په اذان کولو یا نه کولو کې، او اذان دې نه کول کیږي تر وخت له مخه او اعاده دې وکړای شي په وخت کې د ننه.

تشریح: (۲۹) یعنی د قضاء شوي لمانځه لپاره دې اذان هم کوي او اقامت هم ﴿لماروی ان النبی ﷺ قضی الفجر غداة لیلة التعریس باذان واقامة﴾ (یعنی مروی ده چې نبی کریم ﷺ د لیلة التعریس په سهار د سهار د لمانځه قضاء په اذان او قامت سره وکړه)، د امام شافعی رحمه الله په نزد دې صرف اقامت کوي مګر د احدیث مذکور په ده باندې حجت دی.

(۳۰) قوله وکذا الاولی الفوائت ای ویؤذن کذالک لاولی الفوائت، یعنی که له چا څخه څو لمونځونو قضاء شول او بیا یې یو ځای راګرځوي نو د اول لمانځه لپاره دې اذان او اقامت دواړه وکړي لماروینا او د نورو لمونځونو په باره کې ده لره اختیار دی که یې خوښه شوه نو د هر لمانځه لپاره دې اذان او قامت دواړه کوي تر څو قضاء له اداء سره مطابقه شي او که یې خوښه شوه نو په اقامت دې اکتفاء وکړي ولې چې اذان د استحضار لپاره وي

اودلته خوټول حاضردي لهذا اذان ضرورت نشته حال داچې اقامت دافتتاح صلوة خبرورکوي کوم ته چې حاضرین هم محتاج دي .

(۳۱)دلمانځه دوخت تر داخلیدو وړاندې اذان کول دطرفینو په نزد معتبرنه دی نو که چاله وخت څخه وړاندې اذان وکړنوله دخول وخت وروسته به داذان اعاده کیږي ولی چې له اذان څخه مقصود خلکوته ددخول وخت خبرورکول دي اوله وخت څخه وړاندې اذان کول خلک په جهالت کې اچوي په دي وجه له وخت څخه مخکې اذان کول شرعاًمعتبرنه دی که څه هم دسهارلمونځ هم وي ،البته دامام ابویوسف رحمه الله په نزددسهاراذان له نیمې شپې وروسته جائزدی .

ف ،دطرفینو قول راجح دی لمافی الهندیة :تقدیم الاذان علی الوقت فی غیر الصبح لایجوز اتفاقا وکذافی الصبح عندابی حنیفه ومحمد وان قدم یعادفی الوقت هکذافی شرح مجمع البحرین لابن الملک وعلیه الفتوی (هندیه:۱/۵۳ ، وکذافی الدر المختار:۱/۲۸۴)

ف ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزددسهارلپاره دشپې په اخرنۍ نیمایې کې اذان کول جائزدی ولی چې داله اهل حرمینو څخه متوارثامنقول دی همدادامام شافعی رحمه الله قول هم دی ،مګرپردوئ باندې حجت دنبی کریم ﷺ هغه قول دی کوم چې یې حضرت بلال رضی الله عنه ته فرمایلی وو چې ﴿ لاتؤذن حتی یستبین لک الفجرومدیدیه عرضا﴾ (یعنی اذان مه کوه ترڅوچې تاته فجربنکاره داسې بنکاره شي اونبی کریم ﷺ خپل دواړه لاسونه عرضاخپاره کړل).

(۳۲)وَكُرِهَ أَذَانُ الْجُنُبِ وَإِقَامَتُهُ (۳۳)وَإِقَامَةُ الْمُحْدِثِ (۳۴)وَاذَانُ الْمَرْأَةِ وَالْفَاسِقِ وَالْقَاعِدِ وَالسَّكْرَانِ (۳۵)لَا أَذَانُ الْعَبْدِ وَوَلَدِ الزِّنَا وَالْأَعْمَى وَالْأَعْرَابِيِّ (۳۶)وَكُرِهَ تَرْكُهُمَا لِلْمُسَافِرِ لَا لِمُصَلٍّ فِي بَيْتِهِ فِي الْمِصْرِ (۳۷)وَنُدِبَا لَهُمَا لَا لِلنِّسَاءِ

ترجمه:اومکروه دی اذان دجنب اواقامت دده ،اودبې اودسه کس اقامت ،اومکروه ده دښځې اذان اودفاسق اذان اودناست کس اذان اوپه نشه کې دمست اذان ،نه ده مکروه دولدزنا ،ړانده اودکوچې اذان ،اومکروه ده دواړوپرېښودل دمسافرلپاره نه ده هغه چالپاره چې په کورکې لمونځ کوي ،اواذان اواقامت مستحب دی ددوئ دواړولپاره نه دښځولپاره .

تشریح:کله چې مصنف رحمه الله دنفس اذان له بیان څخه فارغ شونودمؤذن دصفاتو بیان یې شروع کړ،دمؤذن یې څه داډول صفتونه ذکرکړل چې که مؤذن له هغوصفاتوڅخه په یوصفت متصف وي نودهغه اذان مکروه دی اوځینې یې داسې صفات هم ذکرکړي دي چې له هغوسره اذان مکروه نه دی .

(۳۲)یعنی دجنابت په حال کې اذان کول اوقامت کول مکروه دي ولی چې اذان اواقامت په استقبال قبله اودکلماتوپه ترتیب وغیره کې له لمانځه سره مشابهت لري مګرحقیقة لمونځ نه دی لهذا اذان ددې دواړوجهتونواعتبارکړل شوی دی نوپه حالت جنابت کې داول جهت یعنی دمشابهت اعتبارکولوسره مکروه وګرځول شواودبې اودسی په حالت کې دحقیقت داعتبارکولوسره بغیرله کراهته جائزوګرځول شو.

(۳۳)قوله والاقامة المحدث ای وکره اقامة المحدث ،یعنی بې له اودسه څخه اقامت کول مکروه دي ولی چې په دې صورت کې دمؤذن داقامت اولمانځه ترمنځ فصل راځي ،اذان اواقامت په اوداسه سره کول مستحب دي ترڅوچې دکوم کارلپاره دعوت ورکوي دهغه لپاره خوپه پخپله تیاروي مګرکه بې له اودسه یې اذان

وكړنوبي له كراهته جائز دى ولى چې اذان دالله ﷻ ذكردى اوذكرلپاره اودس مستحب دى واجب نه دى البته اقامت هم ځرنګه چې ذكردى ،مكرله بلې وجې څخه (چې ذكرشوه)مكروه دى.

(۳۴)قوله واذان المرأة والفاسق اى وكره اذان المرأة والفاسق الخ،يعنى دښځي ،فاسق ،قاعداوپه نشه كې دمست اذان مكروه دى،دښځې اذان په دې وجه مكروه دى چې اذان په لوړږغ سره په لوړځاى باندې كيږي كوم چې دښځې لپاره ممنوع دى نوكه ښځې اذان وكړنواستحبابادې راوګرځول شي ،اودفاسق اذان په دې وجه مكروه دى چې دفاسق قول په دياناتوكې مقبول نه دى اواذان له دياناتوڅخه دى .اوپه ناسته سره اذان په دې وجه مكروه دى چې كومې فرشتې چې داذان تعليم وركړى وو هغې په ولاړه سره اذان كړى وو ،اوپه نشه كې دمست اذان په دې وجه مكروه دى چې داسې كس فاسق دى اودفاسق په قول اعتمادنشي كيدلاى ،اوهمداراز ددخول وخت معرفت هم ده ته نشي حاصليداى .

ف:دجنب ،ښځې ،معتوه ،په نشه كې دمست اودغيرمميز كوچني اذان به استحبابا راګرځول كيږي ليكن كه چيرته دكوم جماعت والاوو ته دوخت دخول معلوم وو اوټول حاضروو اوس كوم فاسق كس ياغيرمميز كوچني اذان وكو نودده اذان دې نه راګرځوي لمافى الشامية :فيعاداذان الكل ندباعلى الاصح كمافدمناه عن القهستانى ثم الظاهران الاعادة الماهى المؤذن الراتب امالوحضر جماعة عالمون بدخول الوقت واذن لهم فاسق اوصبى يعقل لايكره ولايعاداصلا لحصول المقصودتأمل(ردالمحتار: ۱/۲۹۰)

(۳۵)قوله لااذان العبدوولدالزنااى لايكره اذان العبدوولدالزناالخ،يعنى دغلام ،ولدزنا،رانده اودكوچې اذان مكروه نه دى ولى چې ددوئ قول په دينې اموروكې مقبول دى اوددوئ له اذان څخه اعلام حاصليږي .

ف:دغلام اومينځې وجوداوس په دنياكې نشته دشرعى جهادپه سبب به پيداكيدې په قديم دوركې به ميدان جنګ ته ددواړوطرفونوفوځيانوخصوصاداسلام ددښمنانوپوځيانوخپلې ښځې ميدان جنګ ته له خپل ځان سره راوستلې دماتې په صورت كې به مسلمان پوځ ددښمن دپوځ نارينه غلامان اوښځې به يې مينځې جوړولې په كوموبه يې چې بياخپل خذمت كاوو اودنورومالونوپه شان به يې دوئ هم خرڅول،حال داچې په دې دوركې داسلسله ختمه شوې ده .

(۳۶)دمسافرلپاره داذان اواقامت دواړوپريښودل مكروه دې ولى چې دنبى كريم ﷺ دامر مخالفت راځې كوم چې نبى كريم ﷺ مالك بن الحويرث اودهغه داكازوى ته كړى وو چې ﴿إِذَا سَافَرْتُمَا فَأَذِّنَا وَأَقِيمَا﴾(يعنى كله چې تاسې دواړه سفركوى نواذان اوقامت كوئ)همداراز دسفرله امله جماعت نه ساقطيږي نودجماعت لوازم يعنى اذان اواقامت هم نه ساقطيږي ،البته كوم كس چې په كوركې لمونځ كوي اوپه كلى كې باقاعده اذان اواقامت كيږي نودده لپاره اذان اواقامت پريښودل مكروه نه دي لقول ابن مسعودرضى الله عنه أَذَانُ الْحَيِّ يَكْفِينَا (يعنى دكلى اذان زموږلپاره كافى دى)دامام مالك رحمه الله په نزدكه كوم كس په صحراء ياكوركې يواځې لمونځ كوي نواذان اواقامت دې نه كوي ولى چې اذان اوقامت دباجماعت لمانځه لپاره علامې دې نه ديواځې لمانځه لپاره .

(۳۷)قوله وندبالهما لاللنساء اى وندب الاذان والاقامة للمسافر والمصلى فى بيته ولايندبان للنساء ،يعنى دمسافراوپه كوركې دلمونځ كونكې لپاره اذان اواقامت دواړه مندوب دي مګردښځولپاره مندوب نه دي ولې چې اذان اواقامت دجماعت مستحبه لپاره سنت دي اودښځوپه حق کې جماعت مستحب نه بلکه منسوخ دى.

ف:کله چې مؤذن اذان کوي نواوريدونكى دي ځواب وركوي داجابت مؤذن په باره کې دشمس الائمة حلوانى رحمه الله وغيره علماوورأيه داده چې داذان ځواب وركول مستحب دى البته اجابت بالقدم (يعنى مسجدته تلل)واجب دى په همدې قول فتوى ده ، كه څه هم له ځينواحنافوڅخه داذان دځواب وركولوپه باره کې دوجوب قول هم ثابت دى لمافى خلاصة الفتاوى ومن سمع الاذان فعليه ان يجيب قال شمس الحلوانى الاجابة بالقدم لاباللسان حتى لواجاب باللسان ولم يمش الى المسجدلايكون مجيباولوكان فى المسجدحين سمع الاذان ليس عليه الاجابة (خلاصة الفتاوى :۱/۵۰)ولفى عرف الشذى:واماجواب الاذان فالاحناف وغيرهم على استحبابه(عرف الشذى:۱/۷۰)

ف:داذان ځواب وركونكى به هغه كلمات وايي كومې چې مؤذن وايي ماسواله حى الصلوة اوحى الفلاح څخه چې دهغوئ په ځواب کې به لاحول ولاقوة الابالله وايي ولې چې له حضرت عمررضى الله عنه څخه مروى ده چې نبى كريم ﷺ وفرمايل کله چې مؤذن الله اكبرالله اكبروواييې نوپه تاسي کې چې كوم څوک واوري نوهغه دي هم الله اكبرالله اكبروواييې بياچې کله هغه اشهدان لااله الاالله ووايي نواوريدونكى دى هم اشهدان لااله الاالله ووايي بياچې کله هغه اشهدان محمدرسول الله ووايي نواوريدونكى دي هم اشهدان محمدرسول الله ووايي بياچې کله هغه حى الصلوة ووايي نواوريدونكى دي لاحول ولاقوة الابالله ووايي بياچې كله هغه حى على الفلاح ووايي نوبيادي هم اوريدونكى لاحول ولاقوة الابالله ووايي اوکله چې هغه الله اكبرالله اكبروواييې نودى دي هم الله اكبرالله اكبروواييې اوکله چې هغه لااله الاالله ووايي نودى دي هم لااله الاالله ووايي ،دسهارپه اذان کې دي د الصلوة خيرمن النوم په ځواب کې صدقت وبررت وايي.

ف:البته په فتح القدير،بحرالرائق اوالنهرالفائق کې په دې خبره ټينګارشوى دى چې له لاحول ولاقوة سره دي حى على الصلوة اوحى على الفلاح هم وايي ترڅوچې په واړوحديثونوباندي عمل وشي ولې چې په يوه حديث کې راغلي دي چې فقولوامثل مايقول المؤذن ،حال داچې په بل حديث کې صراحت دى چې دحيعلتين په وخت دي حوقله وايي لمافى الشامية:واختارفى الفتح الجمع بينهماعملابالاحاديث .....وقدرأينامن مشائخ السلوك من كان يجمع بينهمافيدعوانفسه ،ثم يتبرأمن الحول والقوة ليعمل بالحديثين ،وقداطال فى ذالك واقره فى البحروالنهروغيرهما،قلت وهومذهب سلطان العارفين سيدى محى الدين نص عليه فى الفتوحات المكية(ردالمحتار:۱/۲۹۳)

ف:له اذان څخه وروسته دعاپه كومه کې چې نبى كريم ﷺ ته دوسيلي دعاء كړل شوي ده ويل مسنون اومستحب دي اودنبى كريم ﷺ حق دى لهذاهغه دعاباېدوويل شي ،عوام په دې دعاء کې بالالتزام لاس پورته کوي حال داچې په دې کې لاس پورته كول اونه پورته كول دواړه برابردي بلکه نه پورته كول افضل دي لمافى فيض البارى:والمسنون فى هذه الدعاء الاترفع الايدي لانه لم يثبت عن النبى ﷺ رفعهما الخ (فيض البارى:۲/۱۶۷)

ف:له اذان څخه وروسته دعاء په لاندي الفاظوسره له رواياتوڅخه ثابته ده ،اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلوة القائمة آت محمداالوسيلة والفضيلة وابعثه مقامامحمودا الذى وعدته ،په بيهقى کې دانك لاتخلف الميعادزياتوالى هم ذكردى .له دې څخه ماسوا الدرجة الرفيعة اوپه اخيرکې دبرحمتك ياارحم الراحمين زيادت ثابت نه ده لهذاددې په

دعاء کې ويل دسنت خلاف دی لمالی الشامية: قال ابن حجر فی شرح المنهاج وزيادة والدرجة الرفيعة وختمه بياارحم الراحمين لااصل لهما (ردالمحتار: ۱/۲۹۳)

باب شروط الصلاة

داباب دلمانځه دشرطونه په بيان کې دی

شروط دشرط جمع ده شرط په لغت کې دعلامې په معنی سره ده له دې څخه اشراط الساعة يعنی علامات الساعة دی، اوشرعاً شروط هغه دي په کوم چې ديوشی وجودموقوف وي اوپخپله دی دهغه شی له حقيقت څخه خارج وي اودهغه په وجودکې مؤثرنه وي.

ف: علامه حموی رحمه الله فرمايي چې کوم شی چې له بل شی سره متعلق وي نوهغه به له دووحالوڅخه خالی نه وي يابه اول په ثانی کې داخل وي يابه نه داخل نه وي که داخل وو نورکن ورته ويل کيږي لکه په لمانځه کې رکوع اوکه داخل نه وو بلکه خارج وو نوبه هم له دوو حالوڅخه خالی نه وي يابه اول په ثانی کې مؤثروي يابه نه وي که مؤثرو نودي ته علت ويل کيږي لکه عقدنکاح دحلت لپاره اوکه مؤثرنه وو نوبه هم له دوه حاله څخه خالی نه وي يابه فی الجملة دده طرف ته موصل وي يابه نه وي که موصل وو نودي ته سبب ويل کيږي لکه وخت دوجوب صلوة لپاره اوکه موصل نه وو نوبه بياهم له دوه حاله څخه خالی نه وي يابه اول په ثانی پسې موقوف وي يابه نه وي که موقوف وو نودي ته شرط ويل کيږي لکه طهارة دلمانځه لپاره اوکه ثانی په اول پسې موقوف نه وو نودي ته علامت ويل کيږي لکه اذان دلمانځه لپاره ،کله چې مصنف رحمه الله دسبب (وختونو) اودهغه له علامې (يعنی اذان) څخه فارغ شونواوس باقی شروط بيانول غواړي.

(۳۸) وَهِيَ طَهَارَةُ بَدَنِهِ مِن حَدَثٍ وَخَبَثٍ وَثَوبِهِ وَمَكَانِهِ (۳۹) وَسَترُ عَورَتِهِ (۴۰) وَهِيَ مَا تَحتَ سُرَّتِهِ إلَى تَحتِ رُكبَتِهِ (۴۱) وَبَدَنُ الحُرَّةِ عَورَةٌ إلَّا وَجهَهَا وَكَفَّيهَا وَقَدَمَيهَا (۴۲) وَكَشفُ رُبعِ سَاقِهَا يَمنَعُ وَكَذَا الشَّعرُ وَالبَطنُ وَالفَخِذُ وَالعَورَةُ الغَلِيظَةُ (۴۳) وَالأَمَةُ كَالرَّجُلِ وَظَهرُهَا وَبَطنُهَا عَورَةٌ

ترجمه: اوهغه پاک والی دی دلمونځ کونکی دبدن له حدث اوخبث څخه اودده دجامې پاکوالی دی اودلمانځه دځای پاکوالی دی ،اودده فرض پټول دي ،اوهغه دنامه له لاندې څخه بيادزنګنوترلاندې پورې دی ،اودازادې ښځې ټول بدن عورت دی مګرنه دده مخ ،ورغوي اودواړه پښې ،اوددې دپنډی دڅلورمې ښکاره والی مانع دی همداشان ويښتان اونس اوورنونه اوشرمګاه ده ،اودمينځې دنارينه په شان ده اوددې شااونس هم عورت دي.

تشريح: دلمانځه ټول اوه شرطونه دي ديوه (يعنی وخت) بيان له دې څخه وړاندې وشو اوپاتې شپږ مصنف رحمه الله دلته بيان کړي دي ، (۳۸) په دوئ کې اول دادی چې په لمونځ کونکی باندی فرض ده چې دی له هرقسم بې اودسې اونجاست څخه پاکوالی حاصل کړي اودپاکوالی دحاصلولو طريقه هغه ده چې مونږ له دې څخه مخکې بيان کړي ده ، داشرط په حقيقت کې ددريوشرطونومجموعه ده يعنی دبدن پاکی،دجامې پاکې اودځای پاکې ،دبدن پاکې دالله تعالی له دې ارشادڅخه ثابته ده ﴿ ياايها الذين آمنوا اذاقمتم الی الصلوة فاغسلوا وجوهكم وايديكم الی المرافق وامسحوا برؤسكم وارجلكم الی الكعبين ﴾ (ای ايمان والوکله چې تاسې لمانځه ته دولاړيدلواراده وکړئ نوخپل مخونه اولاسونه سره له څنګلوپريمنځئ اودخپلو سرونو مسح وکړئ اوخپلې

پښې له بجلکو سره پريمنځئ)وقوله تعالی ﴿ وَإِنْ كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ﴾(يعنی که څه هم تاسې دجنابت په حال کې ياست نوښه پاکې حاصله کړئ)،اودجامې پاکې دالله تعالى له دې ارشادڅخه ثابته ده ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾ (اوخپلې جامې پاکې کړه)دايت شريف له عبارت النص څخه دجامې دپاکولوفرضيت ثابتيږي اوپه دلالة النص سره دځای دپاکوالی فرضيت ثابتيږي ولی چې له جامو څخه انفکاک ممکن دی اوله مکان څخه غيرممکن دی نوکله چې دممکن الانفکاک طهارت فرض شونودغيرممکن الانفکاک طهارت خوبه په طريقه اولی سره فرض وي .

(۳۹)قوله وسترعورته ای والشرط الرابع سترعورة المصلی ،يعنی دلمانځه څلورم شرط داده چې لمونځ کونکی به خپل ستر پټوي لقوله تعالی﴿خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ ﴾(ای خذواماليواری عوراتکم عندکل صلوة)په دې ايت مبارک کې له زينت څخه مرادعورت پټونکی شی دی ولی چې دزينت اخذناممکن دی نودا له قبيلې داطلاق اسم الحال علی المحل دی اوله مسجد څخه مرادلمونځ دی اودااطلاق اسم المحل علی الحال له قبيلې څخه دی ،نواوس ترجمه داشوه واخلئ هغه شی کوم چې ستاسې عورت پټ کړي دهرلمانځه لپاره ،نوله ايت مبارک څخه په لمانځه کې دننه دعورت دپټولو فرضيت ثابت شو .

(۴۰)دنارينه دجسم واجب السترحصه له نامه څخه لاندې ترزنګنوپورې ده يعنی نوم واجب السترنه دی البته زنګون واجب السترد ی ،دامام شافعی رحمه الله په نزددې برعکس دی ،زموږدليل دنامه دنه واجب السترپه باره کې دنبی کريم ﷺ داارشاددی چې﴿ العورة ماذون سرته حتی يجاوز رکبته ﴾(يعنی دنارينه واجب الستربدن له نامه څخه نيولی حتی چې ترزنګنوتجاوز وکړي)اودزنګنوپه باره کې دنبی کريم ﷺ ارشاددی﴿ عورة الرجل مابين السرة الی الرکبة ﴾(يعنی دنارينه واجب السترجسم دنامه اودده دواړوزنګنومابين دی)په دې روايت کې رکبته غايه ده اوغايه کله کله په مغيا کې داخله وي اوکله نه وي مګردلته په دخول کې احتياط دی لهذاموږ احتياطادغايه (زنګون)په مغيا(واجب الستر)کې ددخول حکم وکړ،اوهمداشان ابوهريرة رضی الله عنه راوی دی چې نبی کريم ﷺ وفرمايل چې زنګنونه واجب السترد ي .

(۴۱)دازادې ښځې ټول بدن واجب السترد ی ماسوادد ي له مخه اوورغوڅخه ﴿لقوله ﷺ ان الجارية اذاحاضت لم تصلح ان يری منهاالاوجهها ويداها ﴾ (يعنی کله چې انجلی بالغه شي نومناسبه نه دي چې له دي څخه دې څه وليدای شي ماسواددي له مخه اولاسونوڅخه)دمخ اولاسونوله واجب السترڅخه دمستثنی کولووجه داده چې ډيردينې اودنيوي ضرورتونه ددوئ په ښکاره کولومجبوره کوي خصوصا دشهادت اونکاح وغيره په وخت کې ،اوهمداشان نبی کريم ﷺ داحرام په حالت کې له دسکلواونقاب اغستلوڅخه منع فرمايلې ده نوکه ورغوي اومخ واجب السترواى نونبی کريم ﷺ به داحرام په حالت کې ددوئ پټول نه حرامول ، اوپښې هم دقول اصح مطابق دضرورت له کبله واجب السترنه دي .

ف :البته پياهم ښه داده چې ښځه پښې پټې کړي په دې وجه چې مولاناعبدالحی لکهنوی رحمه الله دپښو عورت والی ته صحيح ويلی دي لماقال الشيخ عبدالحکيم الشاولکوتی رحمه الله :واعلم ان تصحيح مولاناعبدالحی بکون القدم عورة احدالاقوال الثلاثة المصححة واختاره الامام الطحاوی وصاحب الاختيار وهواوسط الاقوال واحسنهاواشبهها بالسنة واليق بالقبول (هامش

الهدايه:۸۷/۱) دعلامه شامي رَحِمَهُ اللهُ رجحان هم همدې ته معلوميږي،قال بعدنقله ان الصحيح ان انكشاف ربع القدم يمنع الصلوة قال لان ظهر القدم محل الزينة المنهي عن ابدائها قال تعالى (ولا يضربن بارجلهن ليعلم مايخفين من زينتهن) (ردالمحتار: ۲۹۹/۱)

ف:په ستركې معتبرداده چې په داسې پنډې جامې سره واجب الستربدن پټ شي له كومې څخه چې فرض (واجب الستر ځاى)نه ښكاريږي نوپه داسې نرم پروني كې لمونځ نه صحيح كيږي له كوم څخه چې دوبښتانورنګ معلوميږي، همداشان كه له قميص څخه دښځې دبدن رنګ ښكاريدونوددې لمونځ نه صحيح كيږي همداحكم دنارينه له بدن څخه دواجب الستر حصې دى لمافي الشامية:(قوله لايصف مالحته)بان لايرى منه لون البشرة احترازاعن الرقيق ونحو الزجاج.(ردالمحتار:۳۸۱/۱)

ف:واضح دې وي چې كوم اندام واجب السترنه وي نوددلازمه نه ده چې هغه ته دې عمداكتل هم جائز وي ولې چې درويت جواز دعلت مدارپردووخبرودى ،نمبر۱.دشهوت ويره به نه وي .نمبر۲.هغه اندام به واجب السترنه وي ،نودښځې مخ ته دشهوت دويرې په حالت كې كتل حرام دي همداشان دبې ږيرې كوچني مخ ته كتل چې دشهوت خوف وي حرام دى كه څه هم واجب السترنه دى يعنى نه دښځې مخ اونه دبې ږيرې مخ ،لمافي شرح التنوير(وتمنع)المرأة الشابة (من كشف الوجه بين رجال) لالانه عورة بل (لخوف الفتنة)كمسه وان امن الشهوة لانه اغلظ ....(ولايجوز النظراليه بشهوة كوجه أمرد)فانه يحرم النظرالى وجهها ووجه الامرداذاشک فى الشهوة امابدونهافيباح ولوجميلا كمااعتمده الكمال قال فحل النظر منوط بعدم خشية الشهوة مع عدم العورة.(ردالمحتار:۲۹۹/۱)

ف:داهم بايديادوساتل شي چې كه دكوم ضرورت له كبله دغيرمحرم مخ ته راتګ لازم شي نوپه ښځه لازم دى چې له مخ سره سره ټول جسم په چادرې ياپنډځادركې پټ كړي دغيرمحرم مخ ته بې له سخت ضرورت څخه دجسم دكومې حصې لڅول جائز نه دي (وتمنع)المرأة الشابة (من كشف الوجه بين رجال)لالانه عورة بل (لخوف الفتنة)كمسه وان امن الشهوة لانه اغلظ.(ردالمحتار:۲۹۹/۱)

(۴۲)يعنى دښځې دپنډۍ څلورمه حصه لوڅيدل دلمانځه لپاره مانع دي دامام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزدترنيمايې پورې لوڅوالى مانع دى له دې څخه كم مانع نه دى طرفين رحمهما الله فرمايي چې ربع هم دكل قائم مقام وي لكه دسرپه مسح كې اودااحرام په حالت كې دسرپه خريلو كې .

قوله وكذاالشعروالبطن الخ اى وكذايمنع الكشاف ربع الشعرالخ،يعنى لوړذكرشوى حكم دسردوېښتانو، نس،ورنونواودعورت غليظه هم دى دطرفينوپه نزدكه له دوئ څخه ديوه يوه ربع لوڅيدل له لمانځه څخه مانع دي ولې چې داهريومستقل اندام دى ،له عورت غليظه څخه مراددبولواودپاخانې ځاى اوخصيتين دي نوله ددې دريو څخه دكوم يوه ربع لوڅوالى هم له لمانځه څخه مانع دى .

ف:انكشاف كثيرپه لږوخت كې مانع نه دى همداشان انكشاف قليل په ډيروخت كې مانع نه دى ، هوانكشاف كثيرپه ډيروخت كې مانع دى دمنكشف كثيرحدربع عضوده اومدت كثيرهغه ده په كوم كې چې دلمانځه يوادنى ركن له ذكرمسنون سره داء كول ممكن وي مثلادومره وخت چې په هغه كې درې ځله تسبيحات ركوع (سبحان ربى العظيم)ويل كيداى شي لمافي الفتح :فالحاصل ان الانكشاف الكثيرفى الزمن القليل لايفسدو الانكشاف القليل في الزمن الكثير ايضالايفسد ,وقال شارح التنوير(ويمنع) حتى انعقادها(كشف ربع عضو)قدراداءركن ,وقال ابن عابدين(قوله قدراداءركن)اى بسنته منيه قال شارحهاوذالک قدرثلاث تسبيحات(ردالمحتار:۳۰۰/۱ ,وفتح القدير:۲۶۷/۱)

ف: البته دا بايد په ذهن كې وي چې دا تفصيل هغه وخت دى چې دلمانځه له شروع كولو څخه وروسته ستر ښكاره شي او كه دلمانځه له ابتداء سره دكوم واجب الستر عضو ربع ښكاره وه نو له سره لمونځ نه منعقد كيږي لمافي الشامية: واعلم ان هذا التفصيل في الانكشاف الحادث في اثناء الصلوٰة، اما المقارن لابتدائها فانه يمنع انعقادها مطلقا اتفاقا بعد ان يكون المكشوف ربع العضو (الشامية: ١/٣٠٠)

(۴۳) يعنى مينځه دستر عورت په باب كې د نارينه حكم لري نو د مينځې په بدن كې هم له نامه څخه نيولي ترزنګنو پورې حصه واجب الستر ده له دې ماسوا د مينځې نس او شا هم واجب الستر ده ولې چې دا دواړه د شهوت ځايونه دي لهذا د دوئ پټول هم فرض دي، د مينځې نور بدن واجب الستر نه دى ولې چې حضرت عمر ﷺ يوه مينځه په داسې حال كې وليده چې پړونى يې پر سر وو نو ويې فرمايل اى بدبويه له خپله ځانه څخه پړونى لرې كړه ايا ته له ازادو ښځو سره ځان برابرول غواړې، هم دا شان مينځه د خپل مولى د خدمت لپاره د كار په جامو كې راوځي نو د ضرورت په اساس مينځه د ټولو خلكو په حق كې پرذوات محارم باندې قياسيږي يعنى څومره اندازه پرده چې پر ازادې ښځې له خپلو محارمو څخه واجب ده همدومره پرده پر مينځې له هر نارينه څخه فرض ده.

ف: په مينځه او ازاده ښځه كې چې څرنګه په دې معنى فرق دى چې مينځه مال ده دكوم چې اخيستل او خرڅول صحيح دي او ازاده ښځه مال نه ده په دې وجه د دوئ په عورت كې هم فرق كړل شوى دى حتى كه مينځې په لڅ سر لمونځ اداء كړنو د دې دا لمونځ جائز دى.

(۴۴) وَلَوْ وَجَدَ ثَوْبًا رُبُعُهُ طَاهِرٌ وَصَلّٰى عُرْيَانًا لَمْ يَجُزْ (۴۵) وَخُيِّرَ إِنْ طَهُرَ أَقَلُّ مِنْ رُبُعِهِ (۴٦) وَلَوْ عَدِمَ ثَوْبًا صَلّٰى قَاعِدًا مُوْمِيًا بِرُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ وَهُوَ أَفْضَلُ مِنَ الْقِيَامِ بِرُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ

ترجمه: او كه لمونځ كونكى جامه وموندله دكومې چې څلورمه حصه پاكه وه او ده په لوڅ بدن لمونځ اداء كړنو جائز نه دى، او ده لره اختيار دى كه تر څلورمې كمه حصه پاكه وه، او كه يې جامه ونه موندله نو په ناسته دې لمونځ اداء كړي په داسې حال كې چې ركوع او سجده دې په اشاره سره كوي او دا ښه ده تردې چې په ولاړه سره ركوع او سجده وكړي.

تشريح: (۴۴) يعنى كه چيرته چاته داسې جامه په لاس ورغله دكومې چې صرف يوه څلورمه حصه پاكه وه او نوره ناپاكه وه او دناپاكې دلرې كولو لپاره له ده سره يو شى نه وو نو ده دا جامه پرينښودله او په لڅ بدن سره لمونځ اداء كړنو د ده دا لمونځ نه صحيح كيږي ولې چې د جامې د څلورمې حصې پاكوالى د ټولې جامې د پاكې په حكم كې دى ولې چې په ډيرو احكامو كې ربع د كل قائم مقام ده.

(۴۵) او كه له ربع جامې څخه كمه پاكه وه نو لمونځ كونكى اختيار لري كه يې خوښه وي نو دا جامه دې واغوندي او لمونځ دې اداء كړي او كه يې خوښه وي نو په لڅ بدن دې لمونځ اداء كړي ولې چې كشف عورت او نجاست دواړه د نه مجبورۍ په حالت كې له لمانځه څخه مانع دي او په مقدار كې دواړه سره برابر دي لهذا د لمانځه په حكم كې به هم دواړه سره برابروي، د امام زفر رحمه الله په نزد په لڅ بدن سره لمونځ كول جائز نه دي ولې چې د پاكې حكم خو د عجز له امله له ده څخه ساقط دى مګر د ستر حكم نه دى ساقط ولې چې ده لره پر ستر قدرت حاصل دى.

(۴۶)كه له كوم كس سره جامه نه وه نه پاكه اونه ناپاكه نو دا كس دي په ناسته سره لمونځ اداء كړي اوركوع اوسجده دي په اشاره سره كوي ولى چې له حضرت انس بن مالك ﷺ څخه مروى ده ،انه قال ان اصحاب رسول الله ﷺ ركبوالى سفينة فانكسرت بهم السفينة فخرجوامن البحر عراة فصلوا قعودا بالايماء (يعني دنبى كريم ﷺ صحابه ﷺ په يوه كشتى كې سفاره شول بياكشتى ماته شوه بيا هغه حضرات له درياب څخه لوڅ راووتل اوپه ناسته سره يې په اشاره لمونځ اداء كړ) له دغو صحابه كرامو ﷺ څخه دافعل مروى دى اوبل كوم صحابى ﷺ پردوئ انكارنه ده كړى نو داگواكې ددي پرجواز اجماع ده .

ف:بيادكښيناستلوپه كيفيت كې دوه قوله دي يوداچې دقبلي لورته دي پښي وغځوي اولمونځ دي اداء كړي ولى چې په دي كې دستر پټوالى ډيردي اودوهم قول دادى چې په تشهد كې دكښينستلوپه طرز دي كښيني دا قول بنه معلوميږي لماقال الرافعى رحمه الله :لوجلس كالصلوة فانه يستر اغلب فخذيه ممايلى الارض بساقيه ولاتظهر عورته الغليظة حالة الايماء الااذابالغ فيه ولاداعى للمبالغة واذاجلس متربعاماظهر من قبله بستره بوضع يديه عليه فينبغى ان يكون الفضل من مدرحليه لمافيه من مدهماللقبلة بلاداع تأمل (تقريرات الرافعى:۳۸/۱)البته علامه شامى رحمه الله اول قول اولى گڼلى دى اودهدايه له شرح اوله نوروكتابونو څخه يې تائيدهم پيش كړى دى ،مگربياهم دااختلاف په افضليت كې دى .

اوكه لوڅ كس په ولاړه سره لمونځ اداء كړنوداهم جائز دى ولى چې په ناسته سره دلمانځه په اداء كولوكې دعورت غليظه پټوالى دى اوپه ولاړه سره دلمانځه په اداء كولوكې دلمانځه اركان يعني ركوع ،سجده اوقيام اداء كيږي نوله دواړه صورتونوڅخه چې يې كوم يوخوښ وي اختياردي كړي مگراول صورت افضل دى ولى چې عورت پټول دلمانځه اوخلكوددواړه دحق له امله واجب دى اوطهارت صرف لحق الصلوة واجب دي .

(۴۷)وَالنِّيَّةُبِلاَفَاصِلٍ وَالشَّرْطُ أَنْ يَعْلَمَ بِقَلْبِهِ أَيَّ صَلاَةٍ يُصَلِّي (۴۸)وَيَكْفِيهِ مُطْلَقُ النِّيَّةِ لِلنَّفْلِ وَالسُّنَّةِ وَالتَّرَاوِيحِ (۴۹)وَلِلْفَرْضِ شَرْطُ تَعْيِينِهِ كَالْعَصْرِ مَثَلاً (۵۰)وَالْمُقْتَدِي يَنْوِي الْمُتَابَعَةَ أَيْضًا (۵۱)وَلِلْجِنَازَةِ يَنْوِي الصَّلاَةَ لِلَّهِ تَعَالَى وَالدُّعَاءَ لِلْمَيِّتِ

ژباړه :اونيت له كوم فاصل څخه بغير اوشرط داده چې په خپل زړه كې ورمعلوم شي چې كوم لمونځ اداء كوم ،اوكافي ده مطلق نيت دنفلو ،سنتواوتراويحولپاره ،اودفرضولپاره شرط دى چې دابه متعين كوي مثلا دمازديگرلمونځ كوم ،اومقتدى به دامام دمتابعت نيت هم كوي ،اوپه جنازه كې دي دلمانځه نيت دالله تعالى لپاره وكړي اوددعاء نيت دي دمړى لپاره وكړي

تشريح :(۴۷)قوله والنية اى والخامس من شروط الصلوة النية بلافاصل ،يعني دلمانځه له شرائطوڅخه پنځم شرط دادى چې دلمانځه نيت وكړي ولى چې دنبى كريم ﷺ ارشاددى ﴿ إنما الأعمال بالنيات ﴾(يعني عملونه په نيتونوموقوف دي)،اونيت دي داسي وكړي چې دنيت اودتحريمي په منځ كې كوم منافى الصلوة عمل فاصل موجودنشي ،په نيت كې معتبرد زړه اراده ده اوددي علامه داده چې له ده څخه كله پوښتنه وشي نوده لره فى البديه جواب وركول ممكن وي چې فلانى لمونځ اداء كوم .

ف:په نيت اوفعل صلوة كې اتصال ضروري دى كه حقيقى اتصال وي اوكه حكمى ،حقيقى اتصال دادى چې عين دلمانځه دشروع كولوپه وخت كې نيت وكړي ،اوحكمى اتصال دادى چې دنيت اوتحريمي په منځ كې مانع اتصال عمل موجود نشي لكه خوراك څښاك وغيره ،داسي عمل چې قاطع اتصال نه گڼل كيږي دهغه

وجود مضرنه ده مثلا دلمانځه په اراده سره يي اودس وكړاو مسجدته ولاړى نومخكنى نيت كافى دى دنيت دتجديدضرورت نشته ولى چې دده داتګ وغيره هم دلمانځه په نيت سره وو لهذا دانيت لپاره قاطع نه دي لمافى الشامية :المراد الفاصل الاجنبى وهو مالايليق بالصلوة كالاكل والشرب والكلام لان هذه الافعال تبطل الصلوة فتبطل النية واما المشى والوضوء فليس باجنبى الاترى ان من احدث فى صلوته له ان يفعل ذالك ولايمنعه من البناء (ردالمحتار: ۱/۳۰۷)

ف: په ژبه سره دلمانځه دنيت كولو څه اعتبار نشته ولى چې داله كوم روايت څخه نه ده ثابته چې نبى كريم ﷺ دافتتاح صلوة په وخت داسې ويل چې اصلى كذا وكذا، اونه په صحابه ؓ، تابعينو او ائمه وكې له چا څخه ثابته ده، البته متاخرينو دداسې شخص لپاره دژبي نيت كافى بللى دى كوم چې پريشان وي اوله حضور قلبى څخه عاجزه وي او غيرپريشان حال شخص لپاره له قلبى نيت سره سره ذكرلسانى هم مستحب دى ترڅو دده قلبى عزم مجتمع شي لمافى الشامية: (قوله اذلم ينقل) فى الفتح عن بعض الحفاظ لم يثبت عنه ﷺ من طريق صحيح ولاضعيف انه كان يقول عند الافتتاح اصلى كذا ولاعن احدمن الصحابة والتابعين زادفى الحلية ولاعن الائمة الاربع بل المنقول انه ﷺ كن اذاقام الى الصلوة كبر، (قوله بل قيل بدعة) نقله فى الفتح وقال فى الحلية ولعل الاشبه انه بدعة حسنة عندقصدجمع العزيمة لان الانسان قديغلب عليه تفرق خاطره وقداستفاض ظهور العمل به فى كثير من الاعصار فى عامة الامصار الخ (ردالمحتار: ۱/۳۰۶)

ف: څرنګه چې پورته ثابته شوه چې دژبې دنيت اعتبارنشته نيت دزړه معتبردى نوكه چا په لسانى نيت كې غلطى وكړه مثلاپه زړه كې اراده وه چې دماپښين لمونځ اداء كوم اوپه ژبه سره يې دمازديګرنوم يادكړنواعتباردزړه ارادي ته دى دلسانى تلفظ اعتبارنشته څرنګه چې ده په زړه سره صحيح نيت كړى دى نولهذا دده لمونځ صحيح دى لمافى الشامية :(قوله ان خالف القلب)فلوقصدالظهر وتلفظ بالعصر سهوا اجزاه كمافى الزاهدى قهستانى (ردالمحتار: ۱/۳۰۵)

(۴۸) كه نفل لمونځ ،سنت ياتراويح وي نو دمطلق لمانځه نيت كافى دى ولى چې نيت دعادت او عبادت ترمنځ دفرق كولولپاره وي اودامقصدله مطلق نيت كولو څخه حاصليږي په دي وجه مطلق نيت كافى دى اوهمداراز دلمانځه په انواعوكې ادنى نوعه نفل دي فانصرف مطلقها اليه ،مګر دسنتوتعين كول افضل اواحوط دي .

(۴۹) اوكه لمونځ فرض ياواجب وي نودي تعين كول ضروري دى مثلادمازديګرلمونځ كوم ياوتركوم ولى چې وخت داسي ظرف دى چې دفرضواونفلودواړو صلاحيت لري اوفرضونه خپله هم مختلف دي لهذاپه دوئ كې امتياز كول ضروري دي ،واجب هم دفرضوحكم لري مثلاوتر،فاسدشوى نفل ،نذراوسجده تلاوة وغيره .

ف: كه دوخت لمونځ كوي نودورځې تعين ضروري نه دى مګربهترااولى دى لمافى الكفاية :والاولى ان ينوى ظهر اليوم فانه يجوز سواء كان الوقت خارجا اوباقيا (كفاية: ۱/۲۳۴)، اوكه دچاپه ذمه قضايې لمونځونه وي نودهريوه په نيت كې دورځې متعين كول هم ضروري ده اوكه دلره يادنه وي نوبيا دي داسي نيت كوي چې زما په ذمه چې كې كوم اول دماپښين لمونځ پاته دى مثلاياكوم چې ترټولوا خرنى دماپښين لمونځ پاته دى هغه اداء كوم لماقال شارح التنوير: (ولابدمن التعين عندالنية) .... (لفرض) انه ظهر او عصر قرنه باليوم او الوقت اولا هو الاصح (ولو) الفرض (قضاء) لكنه يعين ظهر يوم كذا على المعتمد والاسهل نية اول ظهر عليه اواخر ظهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار: ۱/۳۰۸)

(۵۰)یعنی کوم کس چې په بل پسي دلمانځه دکولو اراده وکړي نوده لره دوه نیته کول ضروري دي یو دنفس لمانځه نیت اودوهم په بل پسي داقتداء کولونیت ولی چې دبل په لمانځه کې بغیرله نیت ځخه داخلیدای نشي ،اوهمدارازداوجه هم ده چې دامام دلمانځه په فاسدیدلوسره دمقتدی لمونځ هم فاسدیږي په دي وجه دمتابعت نیت ضروري دی ترڅوداامام په لمانځه کې دی دفساد په راتلوسره چې کوم فساددده په لمانځه کې راځي دهغه لزوم پرده باندی دده دقبلولواولازمولوله کبله راشي .

(۵۱)اودجنازي په لمانځه کې دي دانیت کوي چې لمونځ دالله تعالی لپاره دی اودمړی لپاره دي دعانیت وکړي ولی چې دالمونځ پرده واجب دی لهذاددي تعین اوخالص لله کیدل واجب دی ،دځینوحضراتورأیه داده چې صرف دي دانیت کوي چې دجنازي لمونځ کوم بس همدادامتیاز لپاره کافی دی دمړی لپاره ددعانیت کول ضروري نه دی لکه څرنګه چې مصنف ﷫ ذکرکړي دي ،لیکن ممکن چې مصنف ﷫ دي دیته ااشاره کړي وي چې دجنازي په لمانځه کې درکوع اوسجدي دنیستی له امله دامحض دعا مه ګڼه چې صرف مړی ته ددعانیت وکړي ولی چې واجب خولمونځ دی دعارکن یاسنت ده .

(۵۲)وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ فَلِلْمَكِّيِّ فَرْضُهُ إِصَابَةُ عَيْنِهَا وَلِغَيْرِهِ إِصَابَةُ جِهَتِهَا (۵۳)وَالْخَائِفُ يُصَلِّي إِلَى أَيِّ جِهَةٍ قَدَرَ (۵۳)وَمَنِ اشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ الْقِبْلَةُ تَحَرَّى (۵۵)وَإِنْ أَخْطَأَ لَمْ يُعِدْ فَإِنْ عَلِمَ بِهِ فِي صَلَاتِهِ اسْتَدَارَ (۵۶)وَلَوْ تَحَرَّى قَوْمٌ جِهَاتٍ وَجَهِلُوا حَالَ إِمَامِهِمْ تُجْزِيهِمْ

ژباړه :اواستقبال قبله شرط دی نودمکی لپاره شرط دی دعین کعبی لورته مخ ګرځول اودغیرمکی لپاره ددي جهت ته مخ کول ،اوله دشمن ځخه ویریدونکی دلمونځ اداء کړي کوم لورته چې قادروي ، اوپه چاچې قبله مشتبه شي نوددي غوراوفکروکړي اوکه ده غلطی کړي وه نولمونځ دي نه راګرځوي اوکه ده معلومه شوه غلطی په لمانځه کې نوودي ګرځي ،اوکه تحری وکړه ځه خلګودمختلفو طرفونواودخپل امام له حال ځخه ناخبره وو نوهمداتحری ددوئ لپاره کافی ده.

تشریح :(۵۲)قوله واستقبال القبلة ای والسادس من شروط الصلوة استقبال القبلة ،یعنی دلمانځه شپږم شرط دقبلي لورته مخ ګرځول دي لقوله تعالی (فولوا وجوهکم شطره)(یعنی وګرځوئ خپل مخونه دمسجدحرام لورته)که کوم کس په مکه کې وي (په دي شرط چې دلمونځ کونکی اوکعبي ترمنځ ابادی حائله نه وي)نوپردي کس دعین کعبي لورته مخ ګرځول فرض دي ولی چې نبی کریم ﷺ به چې کله په مسجدحرام کې لمونځ کاوو نودعین کعبي لورته به یې مخ کړاولمونځ به یې اداء کاوو همدادصحابه کرامو ﷺ اوتابعینو معمول وو نوګویاپردي اجماع ده ،اوکه لمونځ کونکی له کعبة الله ځخه غائب وي نوپرده دکعبي جهت ته مخ ګرځول فرض دي ولی چې طاعت بقدرطاقت لازم وي ،اوهمداراز نبی کریم ﷺ په مدینه منوره کې وو اوالله تعالی ده ته دمسجدحرام لورته دتوجه کولوحکم فرمایلی وو نه دعین کعبي لورته دتوجه کولو ،نوله دي ځخه معلومه شوه چې کوم کس چې له کعبة الله ځخه غائب وي نوپرده دعین کعبي لورته متوجه کیدل فرض نه دي .

(۵۳)که چیرته کوم کس دخوف اودارله کبله پراستقبال قبله باندي قادرنه وو نوچې دي کوم لورته په مخ ګرځولو قادروي هغه لورته دي مخ کړي اولمونځ دي اداءکړي مثلاًکوم کس له دشمن یاځناوروغیره ځخه پټ شواوس دی داریږي چې که زه حرکت وکړم اوقبلي ته مخ کړم نودشمن ته به معلوم شم یاخوله

چاڅخه وارنه وو البته دناروغی له کبله هغه پر استقبال قبله باندی قدرت نه درلود او څوک مرسته کونکی هم نه وو نو دا کس دي کښيني او يادي په په پريوتوسره په اشاره باندي چې کوم لورته ممکن وي مخ کړي اولمونځ دي اداء کړي ولی چې دا کس معذوردی نو دا داسي شولکه چې پريو چا قبله مشتبه شي دکوم چې حکم په راتلونکی مسئله کې راروان دی.

ف: داستقبال قبله حکمت دادی چې لمونځ کونکی دالله ﷻ په خدمت کې دی نولهذا دالله ﷻ طرف ته متوجه کيدل ضروري دی مګرځرنګه چې الله ﷻ په جهت کې له کيدلو څخه منزه دی لهذا دده دابتلا. په وجه داحکم ورکړل شوی چې دکعبي لورته مخ کړه ولی چې کوم عاقل بالغ چې کله دالله تعالی لپاره جهت محال ګڼي نو دده داعقيده ددي مقتضی ده چې دی په لمانځه کې کوم خاص لورته دمخ کول لازم ونه ګڼي مګر الله تعالی دقبلي جهت ته دمخ ګرځولو حکم وکړ ترڅو دبنده امتحان واخلي چې بنده حکم مني اوکه يا. په دي وجه استقبال قبله ضروري ده. مګرکله چې دکوم عذرله کبله دکعبي لورته مخ ګرځول ممکن نه وي نوحکم شوی دی چې کوم لورته په مخ ګرځولو قدرت لري هغه لورته دي متوجه شي.

ف: ريل ګاډی دخپلې وضعي په اعتبارسره داسي دی چې په هغه کې استقبال قبله کيداي شي اوپه منځ کې که انحراف پيداشي نو قبله صحيح کيدای هم شي په دي وجه په ريل ګاډي کې دفرض لمانځه دشروع کولو په وخت کې هم اوپه دلمانځه په دوران کې هم دقبلي استقبال ضروري دی. که يې لمونځ دقبلي لورته شروع کړ اوپه منځ کې ريل ګاډی يابس خپل طرف بدل کړنو ده لره خپل طرف بدل هم په کاردي اوددي نظير دفقه هغه جزئيه ده کومه چې دلنګراندازي کشتۍ په باره کې فقهاوو ليکلی ده والمربوطة بلجة البحران كان الريح يحركها شديدا فكالسائرة والافكالواقفة ويلزم استقبال القبلة عند الافتتاح وكلما دارت. هوکه چيرته دومره رش وو چې ګرځيدل ممکن نه وو اوله ريل ګاډی څخه دباندي دلمانځه داداکيدلو موقع نه وه نوبيايې اداء کولی شي ....دبسونوجوربنت داسي دی چې که بس دقبلي لورته نه وي روان نو دقبلي استقبال نشي کيدای په داسي صورت کې که بس ولاړوو نو په څمکه لمونځ کول واجب دي، يابس روان وي مګرسواري يې درلولی شي نوبيادي هم کښته شي اوپه استقبال قبله سره دي لمونځ اداء کړي اوکه سواري په درلو قدرت نه درلودنو بغيرله استقبال قبلي څخه لمونځ اداء کولی شي. (جديد فقهی مسائل: ۱/۱۳۲) په فتاوی حقانيه کې ليکلی دي: که بياهم په ريل ګاډی کې دومره رش وو چې مخ اړول ممکن نه وو نو دمجبوري په صورت لمونځ صحيح کيږي دبس اوريل ګاډی حکم يوشان دی اوکه په بس ياريل ګاډی کې درش له کبله ځای تنګ وي نوپه سيټ کې دي په اشاره سره لمونځ اداء کړي اوبيادي اعاده وکړي. (فتاوی حقانيه: ۲/۳۶۸)

(۵۴) که په کوم کس باندي دقبلي جهت مشتبه شو اوکوم بل څوک هم حاضرنه وو چې له هغه څخه دقبلي لوری معلوم کړي نو دي کس لره په خپله رايه اجتهاد کول په کاردي په کوم لوري چې يې دجهت قبله غالب ګمان شي هغه لورته دي مخ کړي اولمونځ دي اداء کړي ولی چې دالله تعالی ارشاد ﴿اينما تولوا فثم وجه الله﴾ (ترچې کوم لورته تاسي مخ کړی هم هلته متوجه دی الله ﷻ) داشتباه په حالت کې دلمانځه په باره کې نازل شوی دی، هغه داشان يوځل په صحابه کرامو ﷺ باندي قبله مشتبه شوه نو دوئ اجتهاد وکړ اولمونځ يې

اداء کړیایې ددي ذکرنبی کریم ﷺ ته وکړنونبی کریم ﷺ پردوئ انکارونه کړنودنبی کریم ﷺ له طرف څخه عدم انکاردصحت علامه ده.

(۵۵)بیاکه په اجتهادکولوسره دلمانځه له اداءکولووروسته معلومه شوه چې ده په جهت کعبه کې غلطی کړې ده یعنی دقبلې له طرف څخه علاوه کوم بل طرف ته یې په مخ کړځولوسره لمونځ اداء کړی دی نوپردي کس دلمانځه اعاده واجبه نه ده ولی چې پرداسې کس دقبلې په باره کې صرف تحری لازمه ده په کوم کې چې ده هیڅ کوتاهی نه ده کړې اوتکلیف بقدروسعت وي ،اوکه دلمانځه په دروان کې ده ته معلومه شوه چې دکعبې په جهت کې خطاءیم نوداکس دې په لمانځه کې دقبلې طرف ته راوګرځې ولی چې پرده داداء شوي لمانځه له ماتولوبغیردباقی لمانځه په حق کې په اجتهادعمل کول واجب دی.

(۵۶)که چاپه توره شپه کې په تحري کولوسره دمشرق طرف ته په مخ کرځولوسره خلګوته لمونځ ورکړاوخلګوپه تحري کولوسره هریوه خپل دتحری طرف ته لمونځ اداء کړاوحال دادی چې ټول دامام ترشادي مګردانه ده ورمعلومه چې امام کوم طرف ته مخ ګرځولی دی نودده دوئ لمونځ صحیح کیږي ولی چې هریوه خپل دتحری جهت ته مخ ګرځولی دی اوپه داسې وخت کې ددوئ پرذمه همدالازم دي ،اودوئ لره دامام مخالفت مانع نه دی کمافی جوف الکعبة.

ف:کوم مقتدی ته چې معلومه شوه چې دده امام کوم بل طرف ته مخ ګرځولی دی نودده لمونځ نه صحیح کیږي ولی چې دی خپل امام پرخطاء ګڼي همداشان که مقتدی له امام څخه مقدم وي نوهم دده لمونځ نه صحیح کیږي ولی چې ده خپل فرض مقام یعنی شاته دریدل پرینښي دي لمافی شرح التنویر:(فمن تیقن)منهم (مخالفة امامه فی الجهة)اوتقدم علیه (حالة الاداء)امابعده فلایضر (لم تجز صلوته)لاعتقاده خطأامامه ولترکه فرض المقام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: ۱/۳۲۱)

باب صفة الصلاة

داباب دلمانځه دصفت په بیان کی دی

داهل لغت په نزد وصف اوصفت دواړه سره مترادف دي دصفت تادواؤپه عوض کې راغلی ده لکه په وعد اوعدة کې.دلته دصفت څخه دلمانځه هغه هیئت مراد دی کوم چې دهغه له ارکانو اوعوارضو څخه حاصل شوی وي. دځینو حضراتو رأیه داده چې له صفت څخه مراد هغه امور دي کوم چې په باب صفت الصلوة کی ذکر دي په دې وخت کی دصفت اضافت صلوة ته له قبیلی داضافت الجزء الی الکل دی .ولی چې په دې باب کی کوم امور مذکور دي هریو دلمانځه جزءدی .ددې باب له ماقبل سره مناسبت دادی .چې کله مصنف رحمه الله دلمانځه له وسائلو یعنی شرائطو څخه فارغ شونواوس له دې ځای څخه دمشروط یعنی لمانځه بیان شروع کوي .

ف.دشي دثبوت لپاره شپږ(۶)شیان ضروري دي(۱)عین یعنی دشي ماهیت پیژندل(۲)رکن یعنی دشي دماهیت جزء پیژندل(۳)حکم یعنی دشي لپاره ثابت شوی اثرپیژندل(۴)دشي ځای(۵)دشي شرط پیژندل(

(۶) دشي سبب پيږندل : عين خودلته لمونځ دی اورکن : قيام (ولاړه) ، قرأت ، رکوع، سجده ، وغيره دي ، حکم دلمانځه جواز يا فساد او ثواب دی ، محل مکلف انسان دی ، شرط طهارت وغيره دي، او سبب دلمانځه وختونه دي.

(۵۷) فرضها التحريمة (۵۸) والقيام (۵۹) والقراءة (۶۰) والركوع والسجود (۶۱) والقعود الأخير قدر التشهد (۶۲) والخروج بصنعه

ترجمه :- دلمانځه فرض، تکبير تحريمه ، او ولاړه ، او قرأت ، او رکوع او سجده ، او اخيره ناسته په اندازه دتشهد ، او وتل دی دلمونځ کونکی له لمانځه څخه په خپل فعل سره ،

تشريح : (۵۷) يعنی دلمانځه فرضونه شپږدي ، اول تکبير تحريمه دی لقوله تعالى ﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴾ (او دخپل رب لويی بيان کړه) دټولو مفسرينو په دې اجماع ده چې په آيت شريف کې دکوم تکبير امر دی هغه تکبير تحريمه دی، او بل دا کبر صغيه دامر ده او امر دوجوب لپاره دی ، او دا په اجماع ثابته ده چې دلمانځه دباندې يو تکبير واجب نه دی نو معلومه شوه چې له هغه تکبير څخه دلمانځه تکبير مراد دی ، او دې تکبيرته تکبير تحريمه په دې وجه ويل کيږی چې دې تکبير ديرداسې شيان حرام کړی دی کوم چې ترده مخکې حلال وو.

سوال : تکبير تحريمه شرط دی نو دهغه ذکر کول دلمانځه په شرائطو کې مناسب وو ، مصنف رحمه الله ولی دلته دلمانځه په ارکانو کې ذکر کړې دی ؟

ځواب : تکبير تحريمه څرنګه چې له لمانځه سره متصل دی نو دا په منزله د الباب من الدار دی او باب که څه هم ددار څخه غير دی بيا هم هغه ددار حصه ګڼل کيږي همداشان تکبير تحريمه هم دی.

ف : ګونګی سړی به دلمانځه دااداء کولو پروخت دتکبير تحريمه او قرأت لپاره ژبه شوروي ځينی حضرات دا فرض ګڼي، مګر راجح دادی چې دژبی شورول فرض نه دی . (احسن الفتاوی : ج ۳ ص ۲۹)

(۵۸) قوله والقيام ای وفرضها الثاني القيام : يعنی په لمانځه کی دوهم فرض قيام (ولاړه) دی ، لقوله تعالى ﴿ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴾ (ودريږي الله لره په حالت کې دخشوع) وجه استدلال داده چې په دې آيت مبارکه کی ددريدلو امر دی او امر دوجوب لپاره راځي او خارج له لمانځه ولاړه بالاتفاق واجب نه ده نو خامخا به په لمانځه کی واجب وی ، او همدارازپه دې دمفسرينو اجماع هم ده چې په آيت شريف کی دلمانځه دولاړې امر دی.

ف : په لمانځه کی بلاعذر په يوه پښه باندی دريدل مکروه دي ، او دپښو په منځ کی دلاس دڅلورو ګوتو په اندازه ځای پريښودل مستحب دی لماقال ابن عابدين رحمه الله : ويکره القيام على احد القدمين في الصلوة بلاعذر وينبغي ان يکون بينهما مقدار اربع اصابع اليد لانه اقرب الى الخشوع (ردالمحتار : ج ۱ ص ۳۲۸)

ف : له ولاړی څخه په دې دول ولاړه مراد ده چې لاسونه خپاره کړي (وغوروی) زنګنو (کونی) ته ونه رسيږی، او همدرازقيام هغه وخت رکن دی چې لمونځ کونکی په ولاړه اوسجده دواړو قادر وي اوکه چيرته صرف په ولاړه قادر وو او په سجده قادر نه وو نو دهغه لپاره ولاړه رکن نه دی دهغه لپاره مستحب دادی چې کښيني په اشاره سره لمونځ وکړي، لماقال شارح التنوير : (ومنها القيام) بحيث لومديديه لاينال رکبتيه .... (القادر عليه) وعلى السجود فلو قدر عليه دون السجود ندب ايماؤه قاعدا . (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۳۲۸)

(۵۹)قوله والقرئت اى وفرضها الثالث القراة :يعنى په لمانځه كې دريم فرض قرأت دى لقوله تعالى ﴿ فاقرؤا ماتيسر من القرآن﴾ (له قرآن څخه چې څومره اندازه اسانه وي تلاوت كوى يې) وجه استدلال ددي هم دمخكنى په څير(شان) ده، اوهمدراز دقرأت په فرضيت دامت اجماع هم ده .

(۶۰)قوله والركوع والسجود اى وفرضها الرابع والخامس الركوع والسجود ،يعنى په لمانځه كې څلورم اوپنځم فرض ركوع اوسجود دي،لقوله تعالى ﴿ واركعوا واسجدوا ﴾(اوركوع وكړئ اوسجده وكړئ) وجه استدلال ظاهره ده.

ف :سجدي ته دتللوپه وخت كى بلكل ملاسيده كول په كاردى ،دزنګنو په څمكه تر ايښودو مخكى بايد په ملاكى ټيټوالى رانشى،كه لږهم ټيټ شونوپه ركوع كې تكرارلازميږي. (احسن الفتاوى ج۳ص۳۲) اوداتكرار ركن دى اوتكرار ركن كه په قصدسره وي نولمونځ واجب الاعاده ګرځي ،اوكه په هيره سره وي نوسجده سهولازميږي .لمافى الهنديه:ولايجب السجود الابترك واجب اوتاخيره اوتاخير ركن اوتقديمه اوتكرارها...........الخ (الهنديه ج ا ص ۱۲۶ الباب الثانى

(۶۱)قوله والقعود الاخير قدر التشهد اى وفرضها السادس القعودالاخير قدرالتشهد ،يعنى په لمانځه كې شپږم فرض دتشهدپه اندازه اخيره قعده (ناسته)ده يعنى دومره اندازه كښېنستل فرض دى چې په هغه وخت كى له التحيات لله څخه بياتر عبده ورسوله پورى ويل ممكن وي ،لقوله ﷺ لابن مسعود رضى الله تعالى عنه حين علمه التشهد اذاقلت هذا اوفعلت هذا فقدتمت صلوتك ،كله چې رسول الله ﷺ عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه ته تشهد ورايښودله نوورته وې ويل چې كله ته داووايې اوپه دومره اندازه كښيني نوستالمونځ پوره شو ،وجه استدلال داده چې حضور ﷺ دلمانځه پوره كيدل تر اذاقلت هذا (يعنى قرأت التشهد مع القعود ، ولى چې تشهد بغير قعود مشروع نه دى) ،يا،فعلت هذا (يعنى قعودبدون التشهد)پورى معلق كړى دى ،په دواړوصورتوكى دلمانځه پوركيدل تر قعود پوري معلق دى خواه كه تشهدووايې اوكه يې ونه وايې اوكوم شى چې تر يوبل شى پوري معلق وي هغه بغير معلق به نه شې موجودديداى لهذا دلمانځه پوره كيدل بې له تشهدنه شې راتلاى نوپه دي وجه قعودفرض دى .

(۶۲)قوله والخروج بصنعه اى وفرضها السابع خروج المصلى من صلاته بصنعه ،يعنى په لمانځه كى اووم فرض دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد له لمانځه څخه په خپل اختيارى فعل سره وتل دى ولى چې ددوهم فرض اداءكول ممكن نه دى ترڅوچې له دې لمانځه څخه ونه وځى اوچې له كوم فعل څخه بغير وفرض ته رسيدل ممكن نه وى هغه فعل هم فرض دى .

ف :دخروج بصنع المصلى ، په باره كې پر دې خبره خواتفاق دى چې نه كوم حديث راغلى دى اونه له امام ابوحنيفه رحمه الله يو صريح روايت نقل شوى دى البته علامه بردعى رحمه الله د امام صاحب رحمه الله له يوڅونورو منصوصومسائلو څخه دهغه دفرضيت استنباط كړى دى .اوپرهمدي په عمل كولوسره اكثرومصنفينو فرضيت نقل كړى دى اودصاحبينو طرف ته يې دنه فرضيت قول منسوب كړى دى.

بنده له ډير كوشش وروسته په اعلاء السنن اواحسن الفتاوى كښې دابحث پيداكړ دغو دواړو حضراتو د وجوب دقول له نقل كولوسره سره فرضيت راجع ګرځولى دى په اعلاء السنن كى علامه ظفر

احمد عثمانی له ډیر اوږد بحث وروسته داسی لیکي ، فثبت ان المفروض هو الخروج عمدا بمايناقى الصلوة. او حضرت مفتی رشید احمد لدهیانوی هم دیو سوال په جواب کی لیکلي: چې وتل له لمانځه څخه دلمونځ کونکي په فعل سره فرض دی دوجوب قول هم شته لیکن دفرضیت قول راجع دی او په سلام لفظ سره له لمانځه څخه وتل واجب دي او دامام شافعی رحمه الله په نزد له لمانځه څخه په سلام لفظ سره وتل فرض دي، لقول رسول ﷺ تحليلها التسليم .(یعنی دلمانځه تحلیل سلام دی) .احناف رحمهم الله تعالی ځواب ورکوي چې داخبر واحد دی .او په خبر واحد سره فرضیت نه ثابتیږی .

(٦٣)وَوَاجِبُهَا قِرَاءَةُ الْفَاتِحَةِ وَضَمُّ سُورَةٍ(٦٣)وَتَعْيِينُ الْقِرَاءَةِ فِي الْأُولَيَيْنِ(٦٥)وَرِعَايَةُ التَّرْتِيبِ فِي فِعْلٍ مُكَرَّرٍ(٦٦)وَتَعْدِيلُ الْأَرْكَانِ (٦٧)وَالْقُعُودُ الْأَوَّلُ وَالتَّشَهُّدُ(٦٨)وَلَفْظُ السَّلَامِ(٦٩)وَقُنُوتُ الْوِتْرِ(٧٠)وَتَكْبِيرَاتُ الْعِيدَيْنِ(٧١)وَالْجَهْرُ وَالْإِسْرَارُ فِيمَا يُجْهَرُ وَيُسَرُّ

ترجمه: واجبات دلمانځه سورة فاتحة ویل دي اوله سورة فاتحة سره سورة یوځای کول دی .او معلومول دقرأت په دوو اولنیو رکعاتو کې دی .او په فعل مکرر کې دترتیب لحاظ کول دی . او دارکانو اداء کول په ارامه سره دی . اوله ناسته او تشهد ویل دی . اولفظ د سلام ویل دی . او په وترو کی دعاء قنوت ویل دی. او تکبیرات العیدین دی . اوقرأة په زوره او سوکه ویل په کومو لمنځوکی چې په زوره یا سوکه ویل کیږي.

تشریح :(٦٣) په لمانځه کی دننه یولس شیان واجب دي له هغو څخه یو سورة فاتحة ویل دی اودوهم له فاتحه سره یو سورة اویادرې آیاتونه له کوم سورة څخه چې خوښه یې شي یوځای کول واجب دی . زموږ په نزد مطلق قرأة قران فرض دی ، لقوله تعالى﴿ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ ﴾ (له قرآن چې څومره قدر اسان وي درته هغومره وایاست)اوفاتحه اوله هغی سره یو سورة یوځای کول دادواړه جلاجلا واجب دي .ولی چې دفاتحه ثبوت په خبرواحد سره دی او په خبرواحد سره فرضیت نه ثابتیږی صرف وجوب ثابتیږی اودضم سورة وجوب دنبی کریم ﷺ له مواظبت بلاترک څخه دی په کوم سره چې صرف وجوب ثابتیږي فرضیت نه ثابتیږي .

ف :امام شافعی رحمه الله دفاتحي دفرضیت قائل دی لقول رسول الله ﷺ ﴿ لَا صَلَاةَ إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ﴾ (بغیر له فاتحه الکتاب څخه لمونځ نشته) یعنی بغیر له فاتحه لمونځ نه صحیح کیږي .احناف ځواب ورکوي چې دمطلق قرأة فرضیت له دې آیت مبارکه﴿ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ ﴾ (له قرآن چې څومره درته آسان وی هغومره وایاست).ثابت دي .ستاله وړاندي کړل شوي روایت څخه دسوره فاتحه فرضیت نه ثابتیږي ولی چې خبرواحد دی او په خبرواحد سره په کلام الله باندي زیادت جائزنه دی هوله خبرواحد څخه وجوب ثابتیدلی شي په کوم چې موږهم قائل یو.

(٦٤)تعيين القراءة في الاولين اى الواجب الثالث تعيين القراءة في الركعتين الاولين :یعنی دریم واجب په فرض لمانځه کی اول دوه رکعته دقرأة لپاره متعین کول دي ﴿لِقَوْلِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ الْقِرَاءَةُ فِي الْأُولَيَيْنِ قِرَاءَةٌ فِي الْأُخْرَيَيْنِ﴾ (یعنی په دوو اولو رکعتوکی قرأة ویل کفایت کوی له قرأة په دوو اخیرنیوکې) مګر دحضرت علی رضی الله عنه داقول د مدعي دثبوت لپاره ډیر واضح دلیل نه دی ولی چې په اولنیو دوو رکعتو کی قرأة ویل داخیری دوو رکعتو لپاره له کفایت کولو څخه دانه لازمیږی چې په اخری دوورکعتوکی قرأة کفایت نه کوي .نوپه دې وجه قرأة

په اولودوو رکعتوکې واجب شوي ،ډېره مناسبه داده چې په اولنيو دوو رکعتوکې دقرأة دواجب کيدولپاره داوجه بيان کړای شي چې اول دوه رکعته دوراندې والي په وجه سره دقرأة ډير مستحق دي .

(۶۵)قوله ورعاية الترتيب فى فعل مكرر اى والواجب الرابع رعاية الترتيب فى فعل مكرر ،يعنى څلورم واجب دادى چې کوم فعل په يوه رکعت کې مکرر وي په هغه کې دترتيب لحاظ کول واجب دى فرض نه دى حتى چې که يوچا په هيره دوهمه سجده پريښوده اوددوهم رکعت لپاره ولاړ سو په وروسته کې هغه يې سجده راوګرځوله نودهغه لمونځ فاسديږى نه ، اووجه دوجوب يې داده چې حضور ﷺ مراعات ترتيب هميشه توب کړي دى اوهميشه توب بې له ترکه دوجوب دليل دى،اوکوم افعال چې په يوه رکعت کښې مکرر نه وي په دوو رکعتوکښې مکرر وي دهغوپه مابين کى ترتيب فرض دى لکه درکوع اوسجدى په مابين کى ترتيب فرض دى ولى چې له هغه بغير له مونځ نه کيږى .

(۶۶)قوله وتعديل الاركان اى والواجب الخامس تعديل الاركان ،يعنى پنځم واجب تعديل الارکان دى يعنى رکوع اوسجده وغيره داسې په اطمينان سره اداءکول چې ټول اعضاء اوهډونه خپل ځاى ته ورسيږى اوقرار ونسې ولى چې دارکان ويه ارامه سره په اداءکولوکې دفرض پوره والى راځي ،اوکوم شى چې دفرض پوره کونکى وي هغه فرض دى ،اوهمدرازنبى کريم ﷺ په تعديل الارکان باندي هميشه توب کړي دى اودحضور ﷺ هميشه توب په يو کار باندي دوجوب دليل دى .

ف :دامام ابويوسف رحمه الله اوشافعى رحمه الله په نزد تعديل الارکان فرض دى، ولى چې نبى کريم ﷺ يوداسې کس ته چې هغه لمونځ په اطمينان سره نه اداء کاوو فرمايل ﴿ ارجع فصل فانک لم تصل ﴾بيرته ولاړشه لمونځ وکه ولى چې تالمونځ نه دى کړي .احناف ځواب ورکوي چې د نفس رکوع اوسجدي فرضيت دالله ﷻ له دې آيت مبارکه ﴿ واركعوا واسجدوا ﴾څخه ثابت دى،په دي په خبرواحدسره په زيادت کولوسره دتعديل الارکان فرضيت ثابتول صحيح نه دي ولى چې په خبر واحدسره په کتاب الله باندي زيادت جائزنه دى ،هوپه خبرواحدسره وجوب ثابتيدلى شي په کوم چې موږهم قائل يو .

(۶۷) قوله والقعود الاول اى الواجب السادس القعود الاول،يعنى شپږم واجب دلمانځه اوله ناسته ده اواووم واجب په قعده يي اولى کى تشهد ويل دي،ولى چې له حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دى ﴿ اخذ رسول الله ﷺ بيدي وعلمني التشهد كما كان يعلمني سورة من القران وقال قل التحيات لله الخ ﴾(يعنى حضور ﷺ زمالاس ونيوى اوماته يې تشهد راوشودي لکه څرنګه چې به ماته حضور ﷺ يوسورة دقرآن راوشودي اوراته يې وويل ووايه التحيات لله الخ)اوقل امر دى له کوم څخه چې وجوب ثابتيږى فرضيت نه ثابتيږى ولى چې داخبرواحددى اودتشهد ويل بغير له قعود څخه له يوه څخه ثابت نه دى لهذا دتشهدوجوب دقعود وجوب لره هم مقتضى دى،اوهمدراز نبى کريم ﷺ په قعود اوتشهد ويلوباندى بلاترک هميشه توب کړي دى کوم چې دوجوب دليل دى .

(۶۸)قوله ولفظ السلام اى والواجب الثامن لفظ السلام ، يعنى اتم واجب دلمانځه په اخيرکى سلام ګرځول دى ولى چې حضور ﷺ په لفظ دالسلام بغيرترک همشه توب کړي دى کوم چې دوجوب دليل دى ،البته دامام

شافعي رحمه الله په نزد سلام ګرځول فرض دی لقوله ﷺ ﴿ وتحليلها التسليم ﴾(يعنی دلمانځه تحليل سلام دی)احناف ځواب ورکوي چې داخبرواحد دی اوپه خبرواحدسره فرضيت نه ثابتيږی مګر په خبرواحدسره وجوب ثابتيږی اوپه وجوب موږهم قائل يو.

اوهمداشان له عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی ﴿ قال قال رسول الله ﷺ اذاقعد فی آخر صلاته لم احدث قبل ان يسلم تمت صلوته ﴾نوکه لفظ دسلام فرض وای لمونځ به نه تاميدای بلکه فاسدکيدای به.

(۶۹)قوله وقنوت الوتر ای الواجب التاسع قنوت الوتر ،يعنی نهم واجب زموږ په نزد دوترو په اخيری رکعت کې تول کال دعاء قنوت ويل دي ،ولی چې حضور ﷺ په دغه باندی مواظبت کړي دی ،اوکله چې حضور ﷺ حضرت حسن بن علی ﷺ ته دعاء قنوت ورشووی نوورته ويې فرمايل چې ﴿ اجعل هذا فی وترک ﴾(چې دا په خپلوتروکی وايه)په دغه روايت کی درمضان اوغيررمضان هيڅ فرق نشته لهذا په تول کال کی دعاء قنوت واجب دی.

ف :دامام شافعي رحمه الله په نزدبه صرف درمضان المبارک په اخيری پنځلس ورځوکی دعاء قنوت وايي، ولی چې حضرت عمر ﷺ أبی بن کعب ﷺ ته صرف درمضان المبارک په نصف اخيرکي ددعاء قنوت دويلوامر کړی وو ،احناف ځواب ورکوي چې نبی کريم ﷺ حسن بن علی ﷺ ته مطلق امر کړی وو په کوم کی چې درمضان اوغير رمضان هيڅ فرق نشته ، اوهمداشان دشوافعو په نزد دسهار په لمانځه کی دعاء قنوت ويل واجب دی ولی چې نبی کريم ﷺ دسهار په لمانځه کی دعاءقنوت ويلي وو ،احناف ځواب ورکوي چې په بخاری شريف کی روايت دی چې حضور ﷺ تريوه مياشت پوری پررعل اوذکوان قبائلو باندی دښيرا لپاره قنوت نازله ووايو ،بيايې پريښودی ،لهذا دسهار په لمانځه کی قنوت ويل دهميشه لپاره نه دي.

(۷۰)قوله وتکبيرات العيدين ای والواجب العاشر تکبيرات العيدين ،يعنی لسم واجب داخترونو تکبيرات زوائد دي ددي دليل يې دابيان کړی دی چې حضور ﷺ پردي باندی مواظبت بلاترک فرمايلی دی کوم چې دوجوب دليل دی.

(۷۱)قوله والجهر والاسرار فيمايجهر ويسر ای والواجب الحادی عشر الجهر والاسرار فيمايجهر ويسر ،يعنی يوولسم واجب دادی چې په جهری لمنځو نوکې به قرأت په لوړاوازسره وايې اوپه سری لمنځونوکی به قرأة آهسته وايې دليل دامت اجماع ده ولی چې دنبی کريم ﷺ له زمانې څخه نيولې ترننه پوري په جهری لمنځونوکی پرجهر اوپه سری لمنځونوکې پراخفاء باندي دټول امت اجماع ده ، اوهمداشان نبی کريم ﷺ پرجهرا واخفاء باندي مواظبت بلاترک فرمايلی دی کوم چې دوجوب دليل دی.

ف :د اصح قول مطابق .قومه اوجلسه هم له واجبات دلمانځه څخه دي .لهذا دنورو واجبات په څير ددوئ په سهواسره په پريښودلوهم سجده واجبيږي ،که يې سجده سهوونه کړه،بيايې په قصدسره په قومه اوجلسه کی څخه خلل راغی نولمونځ واجب الاعاده دی لمافی الشامیه : والحاصل ان الاصح رواية ودراية وجوب تعديل الارکان ,وأماالقومة والجلسة وتعديلهما فالمشهور فی المذهب السنية وروی وجوبها ,وهو الموافق للادلة ,وعليه الکمال ومن بعده من المتأخرين

وقدعلمت قول تلميذه انه الصواب ،وللعلامة البركي رسالة سماها ،معدل الصلوة ،اوضح فيها غاية الايضاح وبسط فيها ادلة الوجوب ،وذكر مايترتب على ترک ذالک من الآفات واوصلها الى للاثين آفة.(الشاميه: ج ۱ ص ۳۲۳)

ف:مذکوره ټول امور واجب دي له دغو څخه دکوم يوه په هيره سره په پريښودلو باندي سجده سهوکول وجب ده که يې سجده سهو ونه کړه يا يې په قصد سره يو واجب پريښودى نولمونځ واجب الاعاده ګرځي لمافي التنوير وشرحه :ولهاواجبات لاتفسدبتركها وتعاد وجوبا في العمد والسهوان لم يسجدله وان لم يعدها يكون فاسقا ، آثما، وفي الشامية : (قوله ان لم يسجدله)اى للسهو وهذاقيدلقوله ،والسهو، اذلاسجود في العمد .(الدر المختار مع الشاميه ج ۱\ص ۳۳۶)

سوال :په بهشتي زيور کې دي چې په لمانځه کې الحمد اوسورت وغيره که دومره آهسته ووايې چې په خپلوغوږو يې نه واوري نولمونځ يې نه صحيح کيږي ،نوايا دومره په زوره قرأت ويل چې په خپلو غوږونويې واوري فرض دى که واجب،که يې په غلطى سر ديرپه سوکه اوازسره ووايې بيايې په يادشي نوايا په سجده سهوسره لمونځ صحيح کيږي ؟

جواب : دايوقول دى دوهم قول دادى چې که حروف صحيح اداء کړي نولمونځ يې کيږي که څه هم په خپله يې نه واوري،په قول اول باندي په عمل کولو اکثر وهم پيداکيږي ،اواکثره خلک يې ددي وهم په وجه سره په زوره زوره وايې له کوم څخه چې دنوروپه لمانځه کې خلل پيداکيږي ،په دي وجه زمايه خيال پردوهم قول باندي عمل کول په کاردى .(احسن الفتاوى ج۳ص۷۵)

(۷۲)وَسُنَنُهَا رَفْعُ الْيَدَيْنِ لِلتَّحْرِيمَةِ (۷۳)وَنَشْرُ أَصَابِعِهِ وَجَهْرُ الْإِمَامِ بِالتَّكْبِيرِ وَالثَّنَاءُ وَالتَّعَوُّذُ وَالتَّسْمِيَةُ وَالتَّأْمِينُ سِرًّا (۷۴)وَوَضْعُ يَمِينِهِ عَلَى يَسَارِهِ تَحْتَ سُرَّتِهِ (۷۵)وَتَكْبِيرُ الرُّكُوعِ وَالرَّفْعِ مِنْهُ (۷۶)وَتَسْبِيحُهُ ثَلَاثًا

ترجمه:اوسنن دلمانځه دواړه لاسونه پورته کول دي دتکبير تحريمه لپاره ،اوخلاسول دي دخپلو ګوتو ،او په زوره ويل دامام تکبير لره ،سبحانک اللهم ،اعوذبالله ،بسم الله ، اوآمين ،آهسته ويل دي ،او ايښودل دي دښى (راسته) لاس پرکيڼ (چپه لاس) باندي ترنامه لاندي ،او رکوع ته دتلوپه وخت کې تکبير ويل دي ،اوله دي څخه دراپورته کيدلوپروخت ،اوپه رکوع کې دري ځله تسبيح ويل.

تشريح:(۷۲)کله چې دلمانځه له واجباتو څخه مصنف رحمه الله فارغ شو نواوس يې دلمانځه په سننو شروع وکړه کوم چې درويشت (۲۳)دي،اول دادى چې دتکبيرتحريمه پر وخت دواړه لاسونه دومره اندزه لوړکړي چې دواړه بټې ګوتي د دواړو غوږونو له نرميوسره برابري شي ولې چې رسول الله ﷺ له کله ناکله ترک سره پردي هيشه والى کړى دى اوله کله ناکله پرېښودوسره هميشه توب دسنت والى علامه ده.

ف:درفع اليدين دوخت په باره کې(يعنى چې څه وخت به يې پورته کيږي) دفقه په کتابوکې دري اقوال منقول دي،يوقول دادى چې اول تکبيرتحريمه ووايې بيالاسونه پورته کړي ،دوهم دادى چې د لاسونوله پورته کولوسره يوځاى تکبيرتحريمه روايې يعنى د رفع اليدين له ابتداء سره دتکبيرتحريمه ابتداء وکړي اودهغه په ختميدلوسره تکبير ختم کړي ،دريم قول دادى چې دلاسونو له پورته کولوڅخه وروسته دي تکبيرتحريمه ووايې بيادي لاسونه وتړي دااخيرنى قول راجح دى ،قال في التنوير :ورفع اليدين قبل التکبير :وقيل معه،قال ابن عابدين :(قوله قبل التکبير وقيل معه)الاول نسبه في المجمع الى ابى حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى وفي غاية البيان الى عامة العلمائنا وفي المبسوط الى اکثرمشائخنا وصححه في الهداية والثاني اختاره في الخانية والخلاصة والتحفة والبدائع والمحيط بان يبدأ بالرفع عندبداءته

التكبير و يختم به عند ختمه و عزاه البقالي الى اصحابنا جميعا و رجحه في الحلية وثمة قول ثالث وهو انه بعد التكبير و الكل مروى عنه ﷺ و مافي الهداية اولى كما في البحر و النهر و لذا اعتمده الشارح فافهم. (ردالمحتار ج ۱ ص ۳۵٦)

(۷۳) قوله و نشر اصابعه اى و من سنن الصلوة نشر اصابعه ،يعني دلمانځه له سنتونو څخه دوهم سنت دادى چې د رفع اليدين په وخت کې دې خپلې ګوتې خلاسې پرېږدي په دې دول سره چې ګوتې پر خپل حالت باندې وي ولې چې له رسول الله ﷺ څخه همدا شان مروى دى ،دريم سنت دادى ،چې امام دې تکبير په زوره ووايي ولې چې په لمانځه کې د داخليدلو خبرورکولو لپاره د تکبير په زوره ويلو ضرورت دى ،اودثناء ، اعوذ بالله ،بسم الله ،اوآمين ،سوکه (اهسته) ويل سنت دي ،ولې چې د دې تولو په باره کې ډير روايات منقول دي.

ف:امام شافعي رحمه الله فرمايي چې تسميه اوآمين دې په لوړ اواز سره وايې ولې چې له نبي کريم ﷺ څخه تسميه په لوړ اواز سره ويل مروى ده،احناف ځواب ورکوي چې د حضور ﷺ تسميه په لوړ اواز سره ويل تعليما و وترځو چې دا معلومه شي چې د تسميه ځاى د تعوذ او قرأة منځ دى ولې چې له حضرت انس ﷺ څخه مروى ده چې حضور ﷺ به تسميه آهسته ويله ،د تأمين په باره کې د امام شافعي رحمه الله دليل د حضرت وائل ابن حجر ﷺ روايت دى چې ﴿ كان رسول الله ﷺ اذاقرا ولا الضالين قال آمين ورفع بها صوته ﴾ (يعنى کله به چې رسول الله ﷺ ولا الضالين وايئو نو آمين به وايو اوله آمين سره به يې خپل آواز په زوره کړ) احناف وايې چې آمين له اذکارو څخه دى او په اذکارو کې اصل اخفاء ده.

(۷۴) قوله و وضع يمينه على يساره اى و من سنن الصلوة وضع يمينه على يساره ،يعني دلمانځه له سنتونو څخه يو دادى چې د قيام په حالت کې تر نامه لاندې ښى (راسته) لاس په کيڼ (چپ) لاس باندې ايښودل سنت دى، حال دا چې د امام مالک رحمه الله په نزد د لاسونو ايله کول سنت دى او د امام شافعي په نزد پر سينه ايښودل سنت دى ،ولې چې مروى ده چې رسول الله ﷺ به لاس پر سينه ايښودل ،زمونږ دليل د حضرت وائل ابن حجر ﷺ روايت دى ﴿ قال رأيت رسول الله ﷺ وضع يمينه على شماله تحت السرة ﴾ (حضرت وائل ابن حجر ﷺ فرمايي چې ما رسول الله ﷺ وليدى چې هغه خپل راسته لاس پر چپه لاس باندې تر نامه لاندې ايښى وو) او همدا شان تر نامه لاندې لاس ايښودل اقرب الى التعظيم دي او مقصود هم تعظيم دى.

(۷۵) قوله و تكبير الركوع اى و من سنن الصلوة تكبير الركوع ،يعني د لمانځه له سنتونو څخه رکوع ته د تللو لپاره تکبير ويل دى ولې چې له حضرت ابن مسعود ﷺ څخه مروى ده ﴿ ان النبي ﷺ كان يكبر عند كل رفع و خفض و قيام و ركوع ﴾ (يعنى نبي کريم ﷺ چې به کښته کيدو يا پورته کيدو ،دريدو يا کښيناستو نو تکبير به يې وايو) او له رکوع څخه پورته کيدل سنت دى مګر صحيح دادى چې له رکوع څخه سيده دريدل واجب دي لکه څرنګه چې د دې تفصيل به مخکې د مصنف رحمه الله په قول والقومة والجلسة کې راشي. قوله الرفع منه مرفوع دى ،په التكبير باندې عطف دى نه په الركوع باندې ولې چې که په الركوع باندې عطف شي بيا يې معنى دا سې کيږي چې له رکوع څخه د پورته کيدو په وخت کې تکبير سنت دى او حال دا دي چې له رکوع څخه د پورته کيدو په وخت کې تکبير سنت نه دى بلکه تسميع سنت ده.

(۷۶) قوله و تسبيحه ثلاثا اى و من سنن الصلوة تسبيحه ثلاثا ،يعنى د لمانځه له سنتونو څخه په رکوع کې درې ځله سبحان ربى العظيم ويل دي او درې ځله ويل د کامل سنت ادنى درجه ده ﴿ لقوله صلى الله عليه وسلم اذا ركع احدكم

فلیقل فی رکوعه سبحان ربی العظیم ثلاثا وذلک ادناه﴾ (یعني کله چې له تاسو څخه څوک رکوع کوي نو په خپله رکوع کی دې درې ځله سبحان ربی العظیم وایې او دادې ادنی درجه ده) صاحب منیه فرمایې: چې اووه ځله تسبیح ویل کامل سنت دی او پنځه ځله اوسطه مرتبه ده او درې ځله ادنی درجه ده.

ف: که کوم کس، د سبحان ربی العظیم، ظاء، صحیح نه شې ویلای نو هغه دې دعظیم پر ځای، کریم، وایې ترڅو چې د هغه له ژبې څخه، عزیم، و نه ویل شې په کوم سره چې لمونځ فاسدیږي، لمافی الشامیة (تنبیه) السنة فی الرکوع سبحان ربی العظیم الا ان کان لا یحسن الظاء فیبدل به الکریم لئلا یجری علی لسانه العزیم فتفسد به الصلوة (ردالمحتار ج ۱ ص\۳۶۵).

(۷۷) وَأَخْذُ رُكْبَتَيْهِ بِيَدَيْهِ وَتَفْرِيجُ أَصَابِعِهِ (۷۸) وَتَكْبِيرُ السُّجُودِ وَتَسْبِيحُهُ ثَلَاثًا (۷۹) وَوَضْعُ يَدَيْهِ وَرُكْبَتَيْهِ (۸۰) وَافْتِرَاشُ رِجْلِهِ الْيُسْرَى وَنَصْبُ الْيُمْنَى وَالْقَوْمَةُ وَالْجِلْسَةُ (۸۱) وَالصَّلَاةُ عَلَى النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم ﷺ (۸۲) وَالدُّعَاءُ

ترجمة: (او د لمانځه له سنتو څخه) نیول دي د ګونډو په دواړو لاسونو سره او ګوتې خلاصې پرېښودل، د سجدې لپاره تکبیر ویل او ددې تسبیح درې ځله ویل، پر ځمکه د دواړو لاسونو اېښودل دي د ګونډو له اېښودلو څخه وروسته ګونډو ته اېښودلو څخه وروسته، او چپه پښه غوړول او راسته پښه درول او له رکوع څخه درېدل، او د سجدو په منځ کې کښیناستل، او درود ویل په رسول الله ﷺ باندې، او دعاء کول دي.

تشریح: (۷۷) قوله واخذ رکبتیه ای ومن السنن اخذ رکبتیه وتفریج اصابعه، یعني د لمانځه له سنتونو څخه د رکوع په حالت کې خپلې دواړې ګونډې په خپلو دواړو لاسونو سره نیول دي او ګوتې خلاصې پرېښودل دي ﴿لما روی ان رسول الله ﷺ رکع فوضع یدیه علی رکبتیه کانه قابض علیهما﴾ (یعني روایت دی چې رسول الله ﷺ رکوع وکړه او لاسونه ئې په ګونډو داسې اېښي وو لکه چې هغه ئې نیولې وي) و﴿ لقوله صلی الله علیه وسلم لأنس اذا رکعت فضع یدیک علی رکبتیک وفرج بین أصابعک﴾ (چې کله ته رکوع کوې نو خپل لاسونه پر خپلو ګونډو کښېږده او ګوتې خلاصې کړه).

(۷۸) قوله تکبیر السجود ای من السنن تکبیر السجود، یعني د لمانځه له سنتونو څخه سجدې ته د تللو لپاره تکبیر ویل دی، ولې چې له حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی ﴿ان النبی ﷺ کان یکبر عند کل رفع وخفض وقیام ورکوع﴾ (یعني نبی کریم ﷺ چې به کښته کېدو یا پورته کېدو، درېدو یا کښېناستو نو تکبیر به یې وایو) او په سجده کې درې ځله سبحان ربی الاعلی ویل سنت دي، او دا د کامل سنت ادنی درجه ده ﴿لقوله ﷺ اذا سجد احدکم فلیقل فی سجوده سبحان ربی الاعلی ثلاثا وذالک ادناه﴾ (یعني چې کله له تاسو څخه څوک سجده کوي نو په سجده کې دې درې ځله سبحان ربی الاعلی وایې او دا د هغه کمه درجه دی).

(۷۹) قوله ووضع یدیه بعد رکبتیه ای ومن السنن وضع یدیه بعد رکبتیه، یعني سجدې ته د تللو پر وخت له لاسونو څخه وړاندې پر ځمکه د دواړه ګونډې اېښودل سنت دي د امام مالک رحمه الله په نزد باندې اول پر ځمکه لاسونه اېښودل بیا ګونډې اېښودل سنت دي، د هغه دلیل د حضور ﷺ حدیث دی ﴿ فلا یبرک کما یبرک البعیر ﴾ (یعني داوښ په څېر دې نه کښېني) د هغه په نزد د بروک الابل معنی، دا ده چې اول ګونډې پر ځمکه باندې کښېږدې بیا لاسونه کښېږدي له کوم څخه چې په حدیث شریف کې منع راغلې ده، بر موږ د لیل هم هغه روایت دی ولې چې اوښ اول لاسونه اېږدي بیا پښې اېږدي له کوم څخه منع شوې ده د لهذا اول ګونډې پر ځمکه اېښودل سنت دي.

ف :دامام شافعی رحمه الله په نزد په سجده کی داوو (۷) اعضاوپرځمکه ایښودل فرض دي ﴿ لحدیث ابن عباس رضی الله عنه قال امر رسول الله ﷺ ان یسجد علی سبعة اعضاء ﴾ (حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته په اوو (۷) اعضاؤ سره دسجدي کولو حکم شوي وو)اوهغه اوه اعضاء مخ اودواړه لاسونه اودواړه ګونډي اودواړه پښي دي،داحنافو په نزد دتندی اوپښوپرځمکه په ایښودلو سره دسجدي تحقق راځي، اوتر کومه ځایه چې حدیث دی دهغه په باره کې داحنافو رأیه داده چې داحدیث په ندب باندي محمول دی .

(۸۰)قوله والافتراش رجله الیسری ای ومن السنن افتراش رجله الیسری ،یعنی په قعده کی چپه پښه خپرول (غوړول) اوراسته پښه درول سنت دي ،ولی چې له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت دی ﴿ان النبی ﷺ کان اذاقعدفرش رجله الیسری وقعدعلیها ونصب رجله الیمنی ﴾(یعنی نبی کریم ﷺ چې به کله په تشهدکې کښیناستو نوچپه پښه به يې پرځمکه غوړوله پرهغه به کښیناستی اوراسته پښه به يې دروله).

ف :امام شافعی رحمه الله اوامام احمد رحمه الله په آخیری قعده کې اوامام مالک رحمه الله په دواړه قعدوکې په تورک کولو قائل دي یعنی دواړه پښی دي راسته طرف ته وباسی اوپه کناټودي کښیني ،ولی چې حضور ﷺ تورک کړی دی ، احناف ځواب ورکوي چې دحضور ﷺ تورک د ضعف او سپن ږيروالی په صورت باندي محمول دی .

درکوع اوسجدي په منځ کی سیده دریدل سنت دی ،اودسجدو په منځ کی سیده کښیناستل سنت دي ،لیکن په قومه اوجلسه کی صحیح قول دادی چې دواړه واجب دي ،ولی چې حضور ﷺ همیشه توب بلاترک ورباندي کړی دی اوهمیشه توب بلاترک دوجوب نښه ده،اوهمدارازنبی کریم ﷺ یوه صحرايي ته فرمايلي وو ﴿ثم ارکع حتی تطمئن راکعا ثم ارفع حتی تعتدل قائما ثم اسجد حتی تطمئن ساجدا ثم ارفع حتی تطمئن جالسا ﴾ (یعنی دلمانځه دطریقه په ورښودلوېې و ویل بیارکوع وکړه تردي حده چې په رکوع کی مطمئن شي اوبیاله رکوع څخه پورته شه سیده ودریږه بیاپه اطمینان سره سجده وکړه بیاله سجدي څخه پورته شه تردومره اندازي کښینه چې ښه مطمین شي)قال ابن عابدین (قوله علی مااختاره)قال فی البحر ومقتضی الدلیل وجوب الطمانینة فی الاربعة ای فی الرکوع والسجودوفی القومة والجلسة ووجوب نفس الرفع من الرکوع والجلوس بین السجدتین للمواظبة علی ذالک کله وللامر فی حدیث المسیئ صلاته (ردالمحتار ج ا ص ۳۴۲)

ف :دامام ابویوسف رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله په نزد قومه اوجلسه فرض دي هغوئ په لوړ ذکرشوي حدیث اعرابی سره استدلال کوي ولی چې حضور ﷺ هغه اعرابی ته وویل ﴿ ارجع فصل فانک لم تصل﴾ (یعنی بیرته ولاړشه لمونځ وکړه تالمونځ نه دی کړیی)احناف ځواب ورکوي چې داخبرواحددی له خبرواحدڅخه فرضیت نه ثابتیږی ،هو وجوب ثابتیږی اوپه وجوب مونږهم قائل یو .

(۸۱)والصلاة علی النبی ﷺ ای ومن السنن الصلوة علی النبی ﷺ ،یعنی دلمانځه له سنتونوڅخه په حضور ﷺ باندي درود ویل دي،دامام شافعی رحمه الله په نزدپه لمانځه کی په حضور ﷺ درود ویل فرض دیي.ولی چې دالله جل جلاله امر دی﴿ یاایهاالذین آمنوا صلوا علیه وسلموا تسلیما ﴾ ښکاره خبره ده چې خارج له لمانځه څخه په حضور ﷺ باندي درود ویل فرض نه دی نومعلومه شوه چې په لمانځه کې په حضور ﷺ باندي درود ویل فرض دي

،زمونږ دليل دادی چې حضور ﷺ اعرابی ته لمونځ ورښودا و د درود ويلو حکم يې ورته ونه کړ نو که فرض وای نو ضرور به حضور ﷺ حکم ورته کاوو.

ف:پاتې شوه دا خبره چې امام شافعی ؒ وايې چې خارج له لمانځه درود ويل فرض نه دي مونږ دا نه تسليمه وُ ولی چې امام کرخی ؒ ذکر کړي دي چې په ټول ژوند کې په حضور ﷺ باندی يو ځل خارج له لمانځه ځخه درود ويل واجب دي په دي وجه چې صلّوا دامر صيغه ده او امر د وجوب لپاره مفيد دی نو هر کله چې خارج له لمانځه درود ويل واجب شو او په صلّوا صيغه سره عمل راغی نو اوس په لمانځه کی دننه د درود شريف د وجوب د ثابتولو ضرورت نشته.

(۸۲)قوله والدعاء ای ومن السنن الدعاء بعد التشهد والصلوة ،يعنی له تشهد او درود ځخه چې فارغ شي دعاء کول سنت دی لهذا اوس دي د ځان لپاره او د خپل مور او پلار لپاره دعاء وکړي ولی چې رسول الله ﷺ عبد الله ابن مسعود ؓ ته له تشهد ورښودلو ځخه وروسته وفرمايل ثم يتخير من الدعاء اعجبه اليه فيدعو،يعنی له تشهد ځخه له فارغيدلو وروسته چې انسان ته کومه دعاء خوښه وی هغه دي وکړي)او همدا راز د بخاری شريف روايت دی چې ابوبکر ؓ نبی کريم ﷺ ته عرض وکړ علمنی دعاء ادعو به فی صلاتی قال قل اللهم انی ظلمت ظلما کثيرا ولا يغفر الذنوب الا انت فاغفر لی مغفرة من عندک وارحمنی انک انت الغفور الرحيم (يعنی حضرت ابوبکر ؓ حضور ﷺ ته عرض وکړ ما ته کومه دعاء راوښيه چې زه يې په خپل لمانځه کې وايم نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل دا دعاء وايه اللهم انی ظلمت الخ ای الله جل جلاله !ما پر خپل ځان باندي ډير ظلم کړی دی او نه بخښي ګناه مګر صرف ته لهذا ته ما وبخښي په خپل بخښښ سره او پر ما رحم وکړي صرف ته بخښونکی مهربان يې).

(۸۳)وادابها نظره الی موضع سجوده (۸۴)وکظم فمه عند التثاؤب (۸۵)واخراج كفيه من كمّيه عند التكبير (۸۶)ودفع السعال ما استطاع (۸۷)والقيام حين قيل حيّ على الفلاح (۸۸)وشروع الإمام مذ قيل قد قامت الصلاة

ترجمه:او د لمانځه آداب دادي ،د لمونځ کونکی د سجدي ځای ته کتل ،او خوله پټول د ارميږی کښلو په وخت کې، او لاسونه له لستوڼو ځخه راايستل د تکبير ويلو په وخت کې،او د ټوخی دفع کول څومره چې دده توان او طاقت کيږي، او دريدل کوم وخت چې حی الفلاح وويل شي ،او د امام په لمانځه شروع کول کوم وخت چې قد قامت الصلاة وويل شي.

تشريح:(۸۳)کله چې مصنف ؒ د لمانځه د سنتونو له بيان ځخه فارغ شو نو اوس يې د لمانځه د آدابو په بيان شروع وکړه نو ويې فرمايل چې د لمانځه له آدابو ځخه دادی چې لمونځ کونکی دي د لمانځه په حالت کې د سجدي ځای ته ګوري ولی چې دولاړي په حالت کې د سجدي پر ځای په نظر ساتلو کې خشوع زياته ده او تکلف کم دی او کله چې انسان تکلف پريږدي نو نظر د سجدي ځای ته ځې خواه کې قصد وکړي او که يې ونه کړي .

ف ،او د لمونځ کونکی لپاره مستحب دی چې په حالت رکوع کی دي پښو ته ،او په حالت سجده کې پزی ته ،او په حالت قعود کی دي سينې ته ګوري ،او د سلام ګرځولو پر وخت دي په خپلو اوږو نظر ساتي ولی چې په دي کې دعاجزي اظهار ډير دی لما قال شارح التنوير:(ولها آداب)............نظره الی موضع سجوده حال قيامه والی ظهر قدميه

حال رکوع والى ارنبة انفه حال سجوده والى حجره حال قعوده والى منكبه الايمن والايسر عند التسليمة الاولى والثانية) لتحصيل الخشوع (ردالمحتار ج ۱ ص ۳۵۳)

(۸۴) قوله وكظم فمه عند التثاؤب اى ومن اداب الصلوة كظم فمه عند التثاؤب ،یعنی دلمانځه له آدبو څخه دوهم ادب دادی چې دارمیړی کښلو په وخت کې دحتى الوسع خوله بنده وساتې ولی چې حضور ﷺ فرمایې ﴿التثاؤب في الصَّلاة من الشَّيطان﴾ (په لمانځه کی ارمیړی دشیطان له طرف څخه دی) اوکه یې دارمیړي په وخت کې خوله بنده نه کړای شوه نوبیادي دي په کیڼ لاس یالستوني سره پټه کړي اوکه دقیام په حالت کې وي نوپه ښی لاس دی پټه کړي لمافی التنویر: (فان لم يقدر غطاه) بظهر (يده) اليسرى وقيل باليمنى لو قائما والا فيسراه مجتبى (او كمه). (حواله سابق)

(۸۵) قوله واخراج كفيه اى ومن آداب الصلوة اخراج كفيه من كميه ،یعنی دلمانځه له آدابو څخه دریم آدب دادی چې نارینه دې دتکبیرویلو پروخت لاسونه له لستونو څخه راوباسي ولی چې داتواضع ته زیات قریب دی اودمتکبرینوله مشابهت څخه لیري دی، البته که اشدضرورت وي مثلا ډیریخ وي بیادې نه راباسي، ښځې دې لاسونه په لستونو کی پټ ساتي لانه استر لها.

(۸۶) قوله ودفع السعال مااستطاع اى ومن آداب الصلوة دفع السعال مااستطاع ،یعنی دلمانځه له آداب وڅخه څلورم آدب دادی چې حتى الوسع دې ټوخی کنټرول (بند) کړي ولی چې ټوخی دلمانځه له افعالو څخه نه دی، لیکن دلته له ټوخی څخه داسې ټوخی مراد دی چې فی الجمله طبیعت دهغه مقتضی وي که نه نو بلاضروت ټوخی خو دلمانځه مفسد دی.

(۸۷) قوله والقيام حين قيل حى على الفلاح اى ومن آداب الصلوة القيام حين قيل حى على الفلاح ،یعنی دلمانځه له آداب څخه پنځم آدب دادی چې کله اقامت کونکی (حی علی الفلاح) ووایې نودې ولاړشي ولی چې په دې کی دامر اطاعت اوسبقت الى الاجابت دی، داچې وویل شول چې دحی علی الفلاح په وخت کې دې ولاړشې دا بهتره (ښه) ده که نه نو داقامت په ابتداء کې یاپرخاتمه ولاړیدل هم جائزدي چنانچه که څوک په یو خاص وخت کې ولاړیدل واجب وګڼې اوله دې څخه اختلاف کونکی ته بدردوایې نودابدعت دی ولی چې کوم شرعی حکم ته دهغه له خپل حیثیت څخه زیات اهمیت ورکول هم دومره بددي لکه څومره چې دکوم حکم اهمیت دهغه له حیثیت څخه کمول بددي.

(۸۸) قوله وشروع الامام مذ قيل قد قامت الصلوة اى ومن آداب الصلوة شروع الامام مذ قيل قد قامت الصلوة ،یعنی دلمانځه له آدابو څخه شپږم آدب دادی چې کله مقیم ،قدقامت الصلوة ،ووایې نوامام دې لمونځ شروع کړي ولی چې مقیم امین دی هغه دلمانځه دقیام خبرورکړ لهذا لمونځ دي شروع کړي ترڅو دهغه خبره له دروغو څخه وساتل شي.

ف: لیکن اصح دادی چې داقامت له ختمیدلو څخه وروسته دې امام لمونځ شروع کړي لمافی شرح التنویر (وشروع الامام) فى الصلوة (مذ قيل قد قامت الصلوة) ولو اخر حتى اتمها لا باس به اجماعا وهو قول الثانى والثلاثة وهو اعدل المذاهب كما فى شرح المجمع لمصنفه وفى القهستانى معزيا للخلاصة انه الاصح. قال ابن عابدين رحمه الله (قوله انه الاصح) لان فيه محافظة على فضيلة متابعة المؤذن واعانة له على الشروع مع الامام. (ردالمحتار ج ۱ ص ۳۵۴)

فصل

دا فصل دلمانځه دافعالو دكيفيت اوتركيب په بيان كې دى

فصل لغة ددووشيانو په منځ كې مانع اوحائل ته ويل كيږي اوپه اصطلاح كې په دي شان دځينوجزئي مسائلو مجموعې ته كومې چې له ماقبل څخه په ممتازه ول بيانول مقصودوي دفصل عنوان وركول كيږي ولې چې داله ماقبل څخه ممتازاوجلادي فصل دلته مصدرپه معنى دفاصل (يعني دخپل ماقبل اومابعدپه منځ كې جلاوالى راوستونكى)دى ياپه معنى دمفصول (يعني له ماقبل څخه جلاكړل شوي)دي ،د لفظ فصل وروسته كه فى وه نوداله مبتداء محذوف څخه بناء برخبريت مرفوع منون وي اى هذافصل فى كذا،اوكه له ده څخه وروسته فى نه وي نوبناء بروقف دده اخرساكن وي .

وإذا أرادَ الدُخولَ في الصَّلاةِ كَبَّرَ (وَرَفَعَ يَدَيْهِ حِذاءَ أُذُنَيْهِ (٩٠) وَلَوْ شَرَعَ بِالتَّسْبِيحِ أَوْ بِالتَّهْلِيلِ أَوْ بِالفَارِسِيَّةِ صَحَّ (٩١) كما لو قَرَأَ بها عاجِزاً أو ذَبَحَ وَسَمَّى بها (٩٢) لا بِاللّٰهُمَّ اغْفِرْ لي

توجمه:اوكله چې لمونځ كونكى اراده وكړي په لمانځه كې دداخليدلونوتكبيردي ووايي اوپورته دي كړي لاسونه ترڅوچې له غوږونوسره برابرشي ،اوكه شروع كړده په تسبيح سره ياپه تهليل سره ياپه فارسي ژبه سره نوداصحيح ده ،لكه چې په فارسي ژبه كې قرأة وكړي له عربي څخه عاجزكس ياڅاروى ذبح كړي اوبسم الله په فارسي ژبه سره ووايي ،نه په اللهم اغفرلي سره ..

تشريح:(۸۹)يعني چې كله لمونځ كونكى په لمانځه كې دشروع كولواراده وكړي نو وجوبًا به تكبيرتحريمه ،يعني الله اكبر، وايي لقوله تعالى﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴾(اودخپل رب لويي بيان كړه)وجه داستدلال مخكې تيره شوي ده. اودتكبيرتحريمه پروخت دي خپل دواړه لاسونودومره اندازه اوچت كړي چې دواړه بتې گوتې ددواړوغوږوله نرميوسره برابري شي ولې چې نبى كريم ﷺ له كله كله ترک سره پردي هميشه والى كړى دى اوله كله كله ترک سره هميشه والى دمسنون والى علامه ده .

ف:اودسنتونودبحث په پيل كې تيرشوچې راجح دادى چې اول دواړه لاسونه اوچت كړي بيا تكبيرووايي .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد به تكبيرتحريمه په وخت كې دواړه لاسونه تراوږو پورته كوي ولې چې حضور ﷺ اوصحابه كرام ﷺ به لاسونه تر اوږو پورته كول ،احناف ځواب وركوي چې تراوږوپورې لاسونه پورته كول په عذر باندي محمول دي يعني دحضور ﷺ اوصحابه كرامو ﷺ صرف تراوږوپورې لاسونه پورته كول ديخنى له امله وو، زمونږدليل هغه حديث دى كوم چې حضرت وائل ابن حجر ﷺ روايت كړى دى ﴿ أَنَّ النبي صلى الله عليه وسلم كان إذا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حِذاءَ أُذُنَيْهِ ﴾ (يعني حضور ﷺ چې به كله د لمانځه په شروع كې تكبيروايو نولاسونه به يې ترغوږوپورې اوچتول).

ف،دگونگى په هكله حكم دادى چې هغه به دتكبيرتحريمه اوقرأت لپاره ژبې ته حركت وركوي، ځينوعلماؤ دافرض گڼلي ده ،مگرصحيح داده چې دژبې شورول فرض نه دى بلكه مستحب دى ،قال في الدر:(ولايلزم العاجزعن النطق)كاخرس وامي (اى تحريک لسانه)وكذافي حق القرأة هوالصحيح لتعذر الواجب فلايلزم غيره الابدليل فتكفي النية (ردالمحتار:ج۱ص۴۵۰)

(۹۰) يعني په لمانځه كې شروع كونكى شخص چې كله ،الله اكبر ،و وايي نو بالاتفاق داشخص په لمانځه كې شروع كونكى دى اوكه چا تسبيح يا تهليل (يعنى لااله الاالله يا الحمدلله يا سبحان الله يا لااله غيره) وويل نو دطرفينو په نزد مع الكراهة دا هم جائز ده ،او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد كه لمونځ كونكى په تكبير ويلو باندې قادر نه وو نو بيا جائز ده او كه په تكبير ويلو قادر وو نو په له الله اكبر ،الله الاكبر ،او الله الكبير څخه په كوم يوه باندې دلمانځه شروع كول جائز ده له دې څخه علاوه په كوم بل لفظ سره جائز نه ده . دطرفينو رحمهما الله دليل دا دى چې په آيت مباركه ﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾ (او د خپل رب لوئى بيان كړه) كې دتكبير ذكر دى او په لغت كې دتكبير معنى تعظيم ده او د تعظيم معنى له دې ټولو الفاظو څخه حاصليږي كوم چې مونږ ذكر كړي دي.

ف: دطرفينو قول راجح ده چې هره كلمه دتعظيم ،د الله اكبر قائم مقام كيدلاى شي مگر له ،الله اكبر ،څخه علاوه په كومه بله كلمه تعظيم سره تحريمه كول (يعني ترل) مكروه تحريمي ده . لمافي شرح التنوير (وصح شروعه ايضا مع كراهة التحريم (بتسبيح وتهليل) وتحميد وسائر كلم التعظيم الخالصة له تعالى ولو مشتركة كرحيم و كريم في الاصح وخصه الثاني باكبر و كبير ،قال ابن عابدين (قوله خصه الثاني) فلا يصح الشروع عنده الا بهذه الالفاظ المشتقة من التكبير و الصحيح قولهما كما في النهر والحلية عن التحفة والزاد (ردالمحتار ج ۱ ص ۳۵۷)

او همدا شان دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد كه يو شخص په فارسي ژبه سره (مراد له عربى څه ماسوا بله ژبه ده) و وايي ، خدا بزرگ است ،نو دا هم صحيح ده ولې چې مقصود تعظيم دى او دا مقصود چې له كومې ژبې څخه هم حاصل شي صحيح ده لكه ايمان راوړل چې په هره ژبه سره صحيح ده حال دا چې دصاحبينو په نزد بلاعجزه جائز نه ده .

(۹۱) او دا اختلاف په قرأة بالفارسى ،كې هم دى چې دعدم عجز په صورت كې دصاحبينو په نزد جائز نه دى وعليه الفتوى وصح رجوع ابى حنيفه رحمه الله الى قولهما في القراة خاصة كما في الدر المختار ج ۱ ص ۳۵۷: البته كه په عربى له قرأة كولو څخه عاجزوي نو بالاتفاق جائز دى ، او كه چا دكوم حيوان دذبح كولو پروخت دسم الله پرځاى بنام خدا و وايه نو دا بالاتفاق جائز دى ولې چې دذبح پروخت شرط ذكر دى په كومه ژبه كې چې هم وي .

(۹۲) قوله لا باللهم اغفر لي اى لا يصح شروعه في الصلوة باللهم اغفرلي ،يعني كه يو چا دلمانځه شروع كولو په وخت كې ، اللهم اغفر لي ، وويل نو دا صحيح نه ده ولې چې دا خالص تعظيم نه دى بلكه دويونكى له حاجت سره مخلوط دى .

الالغاز: اى تكبير لا يكون به شارعا فيها؟

فقل: تكبير التعجب دون التعظيم. (الاشباه و النظائر)

(۹۳) وَوَضْعُ يَمِينِهِ عَلَى يَسَارِهِ وَتَحْتَ سُرَّتِهِ (۹۴) مُسْتَفْتِحًا (۹۵) وَتَعَوَّذَ سِرًّا لِلْقِرَاءَةِ فَيَأْتِي بِهِ الْمَسْبُوقُ لَا الْمُقْتَدِي وَيُؤَخِّرُ عَنْ تَكْبِيرَاتِ الْعِيدِ (۹۶) وَسَمَّى سِرًّا فِي كُلِّ رَكْعَةٍ (۹۷) وَهِيَ آيَةٌ مِنَ الْقُرْآنِ أُنْزِلَتْ لِلْفَصْلِ بَيْنَ السُّوَرِ لَيْسَتْ مِنَ الْفَاتِحَةِ وَلَا مِنْ كُلِّ سُورَةٍ

ترجمه: او كېښې دېږدى راسته لاس په چپه لاس باندې تر نامه لاندې ،دسبحانك اللهم ،د ويلو په وخت كې ، او اعوذ بالله دې كرار و وايي دقرأة لپاره نو تعوذ به مسبوق وايي نه مقتدى او مؤخر دې كړي له تكبيرات عيدينو څخه ، او تسميه دې په هر ركعت كې كراره وايي ،او هغه دقرآن مجيد آيت دى كوم چې نازل شوى دى په سورتونو كې دفصل لپاره دسورة فاتحى جزء نه دى او نه دهريوه سورة .

تشريح:(۹۳)يعنى له تكبيرتحريمه ويلووروسته دې راسته لاس په چپه لاس باندې ترنامه لاندې كښيږدي ولى چې دحضرت على ﷺ اثردى أنَّ من السُّنَّةِ وضع اليمين على الشمال تحت السُّرَّة (يعنى راسته لاس په چپه لاس باندې ترنامه لاندې ايښودل له سنتونو څخه دي) .

ف:دامام مالك رحمه الله په نزد دواړه لاسونه ايله كول افضل دى اوترل يې رخصت دي ولى چې حضور ﷺ همداشان كول، اودامام شافعي رحمه الله په نزد دواړه لاسونه په سينه باندې ايښودل افضل دى لقوله تعالى (فصل لربک وانحر)(يعنى دخپل رب لپاره لمونځ وكړه اوراسته لاس په چپ لاس باندې په سينه كښېږده) امام شافعي رحمه الله فرمايې چې له ،وانحر، څخه دلته مراد راسته لاس په چپه لاس پرنحر(يعنى سينه) باندې اينبودل دي ،احناف ځواب وركوي چې له ،وانحر ،څه مراد اضحيه ذبح كول دي ،نه په سينه باندې لاسونه اينبودل.زمونږدليل دحضرت على ﷺ مذكوره بالااثر دى ظاهره دى چې دحضرت على ﷺ اثردامام مالك رحمه الله اودامام شافعي رحمه الله دواړوپه خلاف حجت دى.

ف:دلاس نيولوطريقه داده چې دراسته لاس ورغوى پرچپه لاس باندې كښيښودل شي اوپرمړوند په خنصر(خچى ګوتې)اوبتې ګوتې سره حلقه جوړه كړاى شي .ښځې لره بالاتفاق لاسونه پرسينه اينبودل سنت دي اوداحكم دخنثى مشكل هم دى. لما قال شارح التنوير :(ووضع) الرجل (يمينه على يساره تحت سرته آخذا رسغها بخنصره وابهامه) وهو المختار وتضع المرأة والخنثى الكف على الكف تحت ثديها (الدر المختار على رد المحتار ج ۱ ص ۳۵۹)

(۹۴)قوله مستفتحا .حال من الضمير الذى فى وضع اى قارئا سبحانک اللهم .يعنى لمونځ كونكى دې له لاس اينبودلو بعد ثناء ووايې اوثناء سبحانک اللهم الخ ده ﴿لرواية انس ﷺ ان النبى ﷺ كان اذا افتتح الصلوة كبر وقرأ سبحانک اللهم وبحمدک الى آخره ولم يزد على هذا ﴾(يعنى كله چې به حضور ﷺ لمونځ شروع كوى تكبير به يې وايو اوسبحانک اللهم الخ به يې ويله).

ف:ثناء به مقتدى اوامام دواړه وايې اوكه كوم مقتدى په داسې وخت كې په امام پسې اقتداء وكړي چې امام قرأة شروع كړى وي نواوس بايدثناء ونه وېل شي بلكه هغه ته پكار ده چې په پټه خوله سره دامام قرأة واوري لقوله تعالى ﴿ واذاقرئ القران فاستمعوا له وانصتوا ﴾(يعنى كله چې قرآن ويل كيږي نوهغه ته غوږ ونيسئ اوخاموش اوسئ).

ف:البته كه په خفيه لمانځه كې څوک دجماعت له شروع كيدلوڅخه وروسته راغى اوشريک شو ښكاره خبره ده چې ده ته نه معلوميږي چې امام قرأة شروع كړى دى اوكه يې نه دى شروع كړى نوپه داسې صورت كې مقتدى ته دثناء ويلوحكم دى خوبياهم مسبوق ته په كارده چې دتيرشوى ركعت دراګرځولوپه وخت كې هم ثناء ووايې ،لما فى فتاوى قاضى خان :ولو ادرک الامام بعد ما اشتغل بالقرأن ,قال الشيخ الامام ابوبكر محمد بن الفضل ,لاياتى بالثناء وقال غيره ياتى بالثناء ,قال مولانا ﷺ ,وينبغى ان يكون الجواب على التفصيل ان كان الامام يجهر بالقراة لاياتى بالثناء ,ولو كان يسر بالقراة ياتى بالثناء (الخانيه على هامش الهنديه ج ۱ ص ۸۸ ,باب افتتاح الصلوة ,الفصل الاول)

(۹۵)بيادې كرار تعوذيعنى اعوذ بالله من الشيطن الرجيم ووايې ﴿ لماروى ابى سعيد الخدرى ﷺ قال ان رسول الله ﷺ كان يقول قبل القراة اعوذ بالله من الشيطان الرجيم ﴾ (يعنى حضور ﷺ به له قرأة څخه مخكې اعوذ بالله ويله).اودآهسته ويلودليل دحضرت عبدالله ابن مسعود حديث دى چې امام به څلورشيان كرار وايې له هغو څخه

اعوذ بالله ،اوبسم الله ،اوآمين ،دي، نوچې دامام لپاره داحکم دی نو دمقتدی لپاره خوپه طريقه اولی داحکم دی ،بيا امام ابويوسف رحمه الله اعوذ بالله دثناء تابع بولي ،او دطرفينو رحمهما الله تعالی په نزد دقرأة تابع دی اوراجع هم همدا ده لقوله تعالى ﴿فإذا قرأت القرآن فاستعذ بالله من الشيطان الرجيم﴾ اى اذا اردت قراءة القران. كذا فى الشاميه: لكن مختار قاضى خان والهداية وشروحها والكافى والاختيار واكثر الكتب هوقولهما انه تبع للقراءة وبه نأخذ (ردالمحتار ج ا ص ٢٩٢) .لهذا دطرفينو دقول مطابق دمسبوق شخص چې کوم رکعت تيرشوی دی په هغه کې څرنګه چې پرده قرأة فرض دی په دي وجه به دی اعوذبالله هم وايي ،اوپرمقتدی باندي څرنګه چې قرأم نشته په دي وجه به اعوذبالله وايي اوداخترونوپه لمانځه کې به په اول رکعت کې له زوائد تکبيراتوڅخه وروسته اعوذ بالله وايي ولی چې په اول رکعت کې قرأة له تکبيراتوڅخه وروسته ويل کيږي دامام ابويوسف رحمه الله په نزد مقتدی څرنګه چې ثناء وايي په دي وجه به اعوذبالله هم وايي .

(۹۶)بيادي تسميه يعني ،بسم الله الرحمن الرحيم، وای لمارواه على ابن ابى طالب رضي الله عنه قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقرا بسم الله الرحمن الرحيم فى صلوته(يعني حضور صلى الله عليه وسلم په لمانځه کې بسم الله الخ ويله)اولمونځ کونکې دې تسميه کراره وايي ولی چې حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې امام به څلور شيان په کراره وايي له هغوڅه تسميه ،اوتعوذ، اوآمين، دي.

ف:امام شافعی رحمه الله فرمايي چې بسم الله دي په لوړاوازسره وايي ولی چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم به لمونځ په بسم الله سره شروع کاووا اوحضرت عمر رضي الله عنه وعثمان رضي الله عنه وعلی رضي الله عنه به تسميه په لوړاوازسره ويله .احناف ځواب ورکوي چې دنبی کريم صلى الله عليه وسلم عمل په تعليم باندي محمول دی اودخلفاء راشدينو دعمل په باره کې علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمايي چې دا په قوی رواياتوسره ثابت نه دی،زمونږدليل دحضرت انس رضي الله عنه روايت دی ﴿ما روي عن انس رضي الله عنه أنّه قال صلّيت خلف النبي صلى الله عليه وسلم وخلف ابي بكر وعمر وعثمان فلم أسمع أحدا منهم يجهر ببسم الله الرحمن الرحيم﴾ (يعني مادرسول الله صلى الله عليه وسلم اوابوبکر اوعمر اوعثمان رضي الله عنهم ترشا لمونځ کړی دی تسميه په لوړاوازسره ويل ماله يوه څخه هم نه ده اوريدلي).

(۹۷)دبسم الله ذکر په سورة نمل کې دحضرت سليمان عليه السلام دملکه سبا په نامه په خط کې دی داپه بالاتفاق دقرأن کريم جزء ده ددي څخه انکار کفردی له دي څخه علاوه دامام شافعی رحمه الله ديوه قول مطابق دهر سورة اوددوهم قول مطابق دسورة فاتحې جزء ده .اودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دا (يعني بسم الله)له سورة نمل څخه علاوه هم دقرأن کريم جزء ده کومه چې په خاص دول سره دسورتونوپه منځ کې دفصل راوستلولپاره نازله شوي ده البته هغه دسوره فاتحه ياکوم بل سورة جزء نه ده ولی چې دحضرت عائشې رضي الله عنها روايت دی ﴿قالت إنّ جبريل عليه السّلام اتى النبي صلى الله عليه وسلم فقال اقرأ باسم ربك الذي خلق الخ﴾ ښکاره خبره ده چې په دي کې دبسم الله ذکر نشته نوکه بسم الله دهرسورة جزء وای نوددي سورة په شروع کې به جبرائيل عليه السلام بسم الله ويلی وای.

الالغاز: ای صلوة يسن الجهر ببسم الله الرحمن الرحيم؟

فالجواب: انها كل صلوة جهرية قرأ فيها الاية التى فيها البسملة. (الاشباه والنظائر)

(۹۸)وَقَرَأَ الْفَاتِحَةَ وَسُورَةً أَوْ ثَلَاثَ آيَاتٍ (۹۹) وَأَمَّنَ الْإِمَامُ وَالْمَأْمُومُ سِرًّا

ترجمه:او سورة فاتحه دې ووايي او كوم يو سورة يا درې آياتونه،او امام او مقتدي دې امين په كراره ووايي

تشريح:(۹۸)يعنى لمونځ كونكى دې له تسميه او تعوذ څخه وروسته سورة فاتحه ووايي او له دې سره دې كوم سورة يا درې آياتونه چې له كوم سورة څخه يې خوښه وي ووايي،بيا زموږ په نزد مطلقاً قرأة قرآن فرض دى لقوله تعالى ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ (له قرآن چې څومره درته آسانه وي وي واياست)باقى سورة فاتحه او له هغې سره يو بل سورة يو ځاى كول،دا دواړه زموږ په نزد له واجباتو څخه دي ولې چې د فاتحه ثبوت په خبر واحد سره دى او د ضم سورة ثبوت د حضور ﷺ له مواظبت بلاترك څخه دى،له كوم څخه چې صرف وجوب ثابتيږى فرضيت نه ثابتيږي.

ف:كه د لمونځ كونكى له الحمد لله څخه وروسته د سورة ويل هير شول او ركوع ته ولاړى بيا يې په ركوع كې په ياد شو نو بيرته دې ودريږي يو سورة يا درى آياتونه دې ووايي بيا دې دوهم ځل ركوع وكړي د لمانځه باقى اعمال دې ادا كړي.لما في الشاميه:ترك السورة دون الفاتحه وقنت لم تذكر يعود ويقرأ السورة ويعيد القنوت والركوع،معراج والخانيه وغيرهما(ردالمحتار ج ۱ ص ۳۵۹)

ف:امام شافعى رحمه الله د فاتحې د فرضيت قائل دى لقوله ﷺ ﴿لَا صَلَاةَ إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ﴾ (له فاتحة الكتاب څخه بغير لمونځ نشته)احناف ځواب وركوي چې د مطلق قرأة فرضيت خو د الله ﷻ له ارشاد ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾له قرآن څخه چې څومره درته آسانه وي واياست يې)څخه ثابت دى،پاتې شو د سورة فاتحه فرضيت هغه ستاله پيش كرده روايت څخه نه ثابتيږي ولې چې دا خبر واحد دى او په خبر واحد سره په كتاب الله باندې زيادت جائز نه دى،هو په خبر واحد سره وجوب ثابتيږي د كوم چې موږ هم قائل يو.

(۹۹)يعنى كله چې د سورة فاتحة په آخر كې امام ،ولاالضالين،ووايي نو امام او مقتدي دې دواړه آمين كرار ووايي ﴿لما روى ابو هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ فَأَمِّنُوا فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ﴾ (يعنى وي فرمايل كله چې امام آمين ووايي نو تاسو هم آمين وواياست د چا آمين چې د ملائكه و له آمين سره موافق شي د هغه تير شوي ګناهونه بخشل كيږي)د امام او مقتدي د دواړو د آمين په كراره ويلو دليل د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه روايت دى چې ﴿أَرْبَعٌ يُخْفِيهِنَّ الْإِمَامُ وَذَكَرَ مِنْهَا التَّعَوُّذَ وَالتسميه وآمين﴾ (حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې امام څلور شيان كرار وايي له هغو څخه تعوذ،او تسميه، او امين ،دي)كله چې امام ته د كرار ويلو حكم دى نو مقتدي ته خو به په طريقه اولى سره دا حكم وي.

ف:امام شافعى رحمه الله د آمين په لوړ اواز سره د ويلو قائل دى﴿لحديث وائل بن حجر رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ اذا قرأ ولاالضالين قال آمين ورفع بها صوته﴾ (يعنى رسول الله ﷺ چې به كله ولاالضالين وايو نو امين به يې په لوړ اواز سره وايو) احناف ځواب وركوي چې علقمه ابن وائل رضي الله عنه له خپل پلار څخه روايت كړى دى په كوم كې چې(وخفض بها صوته)دى يعنى آمين يې كرار وايو نو د وائل بن حجر رضي الله عنه په دواړو روايتونو كې ځرنګه چې تعارض دى او قاعده ده چې اذا تعارضا تساقطا،په دې وجه د حضرت وائل ابن حجر رضي الله عنه په روايت سره استدلال كول صحيح نه دي.

(۱۰۰) وَكَبَّرَ بِلَا مَدٍّ (۱۰۱) وَرَكَعَ وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَفَرَّجَ أَصَابِعَهُ (۱۰۲) وَبَسَطَ ظَهْرَهُ وَسَوَّى رَأْسَهُ بِعَجُزِهِ (۱۰۳) وَسَبَّحَ فِيهِ ثَلَاثًا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ (۱۰۴) وَاكْتَفَى الْإِمَامُ بِالتَّسْمِيعِ وَالْمُؤْتَمُّ وَالْمُنْفَرِدُ بِالتَّحْمِيدِ (۱۰۵) ثُمَّ كَبَّرَ وَوَضَعَ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَدَيْهِ ثُمَّ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ (بِعَكْسِ النُّهُوضِ (۱۰۶) وَسَجَدَ بِأَنْفِهِ وَجَبْهَتِهِ وَكُرِهَ بِأَحَدِهِمَا (۱۰۷) أَوْ بِكَوْرِ عِمَامَتِهِ

ترجمه: او تکبیر دې ووايي بغیر له مد کولو، او رکوع دې وکړي، او کښېږدي دې خپل دواړه لاسونه پر خپلو دواړو زنګنو (ګونډو) باندې او ګوتې دې خلاصې کړي، او ملا دې وغوړوي او سر دې له کوناټو سره برابر کړي، او تسبیح دې ووايي په رکوع کې درې ځله بیا دې سرپورته کړي، او امام دې صرف سمیع الله لمن حمده ووايي، او منفرد دې سمیع الله لمن حمده او ربنالک الحمد دواړه وايي او مقتدي دې صرف ربنالک الحمد ووايي بیا دې تکبیر ووايي او پر ځمکه دې خپلې ګونډې کښېږدي، بیا دې دواړه لاسونه کښېږدي. بیا دې مخ د دواړو ورغوو په منځ کې کښېږدي د پورته کېدو په عکس، او په تندي او پوزه دې سجده وکړي او په یوه باندې سجده کول مکروه ده، یا د پګړۍ په ول باندې.

تشریح: (۱۰۰) یعنی وروسته له قرأة څخه دې رکوع ته د تلو لپاره فوراً تکبیر ووايي ولې چې حضور ﷺ به لمانځه کې د هر ټیټېدو او پورته کېدلو په وخت کې تکبیر وایو په تکبیر کې دې مد نه پیدا کوي ولې چې د لفظ الله په ابتدا کې مد پیدا کول یا د لفظ اکبر په ابتدا کې مد پیدا کول د دین له نظره خطاء دي ولې چې له آلله. یا ءاکبر، څخه د استفهام معنی پیدا کېږي، یعنی د، آلله اکبر، معنی داشان کېږي چې آیا، الله ﷻ لوی دی؟ او په دې سره لمونځ فاسدېږي بلکه خيف عليه الكفر ان كان قاصدا، البته د آواز لوړولو لپاره د لفظ الله په لام باندې مد کې ویل مستحسن دی په دې شرط چې له حد څخه تجاوز ونه کړي او په آخر کې مد پیدا کول یعنی اکبار ویل د لغت له نظره غلط دی.

(۱۰۱) او رکوع دې وکړي، په رکوع کې دې په خپلو دواړه لاسونو سره خپلې دواړه ګونډې ونیسي، او د لاسو ګوتې دې خلاصې پرېږدي ﴿لحديث انس ﷺ انه قال ﷺ يابني إذا ركعت فضع يديك على ركبتيك وفرج بين اصابعك وارفع يديك عن جنبيك ﴾ (یعنی کله چې ته رکوع کوي نو خپل دواړه لاسونه په خپلو دواړو ګونډو باندې کښېږده او د خپلو ګوتو په منځ کې خلاص والی وکړه او خپل دواړه لاسونه له خپلو بغلونو څخه لېرې کړه).

ف: د ګوتو خلاص والې صرف په رکوع کې مستحب دی او صرف د نارینه وُ لپاره سنت دی، د ښځو لپاره سنت نه دی بلکې ښځې دې خپلې ګوتې سره ضم کړي بر زنګنو دې په لاسونو باندې نه نیسي بلکه صرف لاس دې په زنګنو باندې کښېږدي، د ګوتو ضمول صرف په سجده کې مستحب ده او له رکوع او سجدې څخه علاوه په نورو احوالو کې دې ګوتې په خپل عادت پرېښودل شي.

(۱۰۲) په رکوع کې دې ملا هواره او له سر سره برابره وساتي یعنی سر دې نه تر ملا لوړ وي او نه دې له ملا کښته کوي ﴿لما روت عائشة رضي الله تعالى عنها انه ﷺ كان يعتدل بحيث لو وضع على ظهره قدح من ماء لاستقر وكذا عن عائشة رضي الله عنها انها قالت كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا ركع لم يشخص رأسه ولم يصوبه﴾ (یعنی حضور ﷺ به ملا برابره وله حتی که د اوبو پیاله د حضور ﷺ په ملا باندې ایښودل شوې وای نو دې پیالې به قرار نیولی وای او همداشان

حضرت عائشة ﵂ فرمايي چې حضور ﷺ به د ركوع په حالت كې نه سرلوړه وي (يعنى ترملا) اونه به يې كښته كاوو.

(۱۰۳) په ركوع كې دې دري ځله سبحان ربى العظيم ووايې او دادري ځله سبحان ربى العظيم ويل د كامل سنت كمه درجه ده ﴿لقوله ﷺ اذا ركع احدكم فليقل ثلاث مرات سبحان ربى العظيم وذالک أدناه﴾ (يعنى كله چې له تاسو څخه كوم يو ركوع كوي نو په ركوع كې دې دري ځله سبحان ربى العظيم وايې او دا دهغه كمه درجه ده) صاحب منية فرمايي چې اوه (۷) ځله تسبيح ويل كامل سنت دى او پنځه ځله اوسط دى او دري ځله كمه درجه ده.

ف: د ركوع په تسبيح كې كه يو څوک دلفظ عظيم ظاء نه شي ويلاى نو سبحان ربى الكريم دې وايې ولى چې په عزيم ويلو سره لمونځ فاسديږي، لمافى الشاميه: السنة فى تسبيح الركوع سبحان ربى العظيم الا ان كان لا يحسن الظاء فيبدل به الكريم لئلا يجرى على لسانه العزيم فتفسد به الصلوة كذا فى شرح درر البحار فليحفظ فان العامة غافلون حيث يأتون بدل الظاء بزاى مفخمة (ردالمحتار ج ۱ ص ۳٦۵)

(۱۰۴) له ركوع څخه وروسته دخپل سر د راپورته كولو پر وخت به امام صرف، سمع الله لمن حمده وايې، او مقتدى به صرف، ربنا لک الحمد، وايې ﴿لقوله ﷺ إذا قال الإمام سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا لک الحمد﴾ (يعنى كله چې امام سمع الله لمن حمده، ووايې نو تاسو ربنا ولک الحمد وايـاست) ظاهره ده چې حضور ﷺ د امام او مقتدى په منځ كې تقسيم فرمايلې دى چې امام دې، سمع الله لمن حمده، وايې او مقتدى دې، ربنا ولک الحمد، وايې او تقسيم له شركت سره منافى دى لهذا له امام او مقتدى څخه به يو دهغه بل په ذكر كې شريک نه وي. او منفرد دې تسميع او تحميد دواړه وايې ولى چې هغه دخپل ځان په حق كې امام دى په دې وجه چې د امام په شان پر هغه هم قرأة واجب دى.

ف: صاحبين رحمهما الله تعالى فرمايي چې امام دې هم، ربنا ولک الحمد، كرار وايې ولى چې كله امام نور د حمد په ويلو باعث كوي نو خپل ځان دې هم نه هيروي، صاحبينو ته ځواب ورکړل شوى دى چې، الدال على الخير كفاعله، لهذا كله چې مقتديانو، ربنا ولک الحمد، ووايو نو امام هم معنى دهغه دويلو والا شمارل كيږي. ليكن مفتى رشيد احمد صاحب رحمه الله تعالى فرمايي، دامام د تحميد په باره كې دواړه قوله شته، ويل يې افضل ده، قال فى شرح التنوير فى سنن الصلوة: ج ۱ ص ۳۴۵ والتسميع للامام والتحميد لغيره، وقال ابن عابدين (قوله لغيره) اى لمؤتم ومنفرد لكن سيأتى ان المعتمد ان المنفرد يجمع بين التسميع والتحميد وكذا الامام عندهما وهو رواية عن الامام جزم بها الشرنبلالى فى مقدمته (احسن الفتاوى ج ۳ ص ۳۱۲)

ف: ربنا ولک الحمد، ته تحميد وايې د تحميد په الفاظو كې تر ټولو افضل، اللهم ربنا ولک الحمد، دى بيا، بحذف الواو اى اللهم ربنا لک الحمد، دى بيا، بحذف اللهم بذكر الواو، يعنى، ربنا ولک الحمد، دى تر ټولو آخرى درجه د، ربنا لک الحمد، دى لمافى شرح التنوير: وافضله اللهم ربنا ولک الحمد ثم حذف الواو ثم حذف اللهم فقط، وقال ابن عابدين رحمة الله عليه: (قوله ثم حذف اللهم) اى مع اثبات الواو وبقى رابعة وهى حذفهما والاربعة فى الافضلية على هذا الترتيب كما افاده بالعطف بثم (ردالمحتار ج ۱ ص ۳٦۷)

(۱۰۵)كله چې لمونځ كونكى له ركوع څخه سيده ودرېږي نو په تكبير ويلو سره دې سجدې ته ولاړ شي ولى چې حضور ﷺ په لمانځه دپورته كيدو اوكښته كيدو په خت كې تكبير وايو ،سجدې ته دتللو طريقه داده چې اول دې گونډې پر ځمكه كښيږدي بيا دې دواړه لاسونه پرځمكه باندې ولگوي اوپه متن كې دننه دبعكس النهوض ، مطلب دادى چې كله له سجدې څخه فارغ شي قيام ته ولاړيږې نو دقعود په عكس دې پورته شي يعنې اول دې لاسونه له ځمكى څخه پورته كړي بيا دې گونډې راپورته كړي ﴿لما روي عن وائل أنه قال رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا سجد وضع ركبتيه قبل يديه وإذا نهض رفع يديه قبل ركبتيه﴾(يعنى ما رسول الله ﷺ وليدې چې كله به سجدې ته تلى نو گونډې به يې تر لاسونو مخكې ايښودلې اوچې كله به له سجدې څخه راپورته كيدى نو لاسونه به يې تر گونډو مخكې راپورته كول).اوسجدى په حالت كې دې مخ ددواړو ورغوو په منځ كې اودواړه لاسونه دې دغوږونو په برابرې كې ايږدي ﴿لحديث وائل بن حجر ﷺ انه ﷺ سجد ووضع وجهه بين كفيه﴾(يعنى حضور ﷺ سجده وكړه نو خپل مخ يې ددواړو ورغو په منځ كې كښيښود).

(۱۰۶)لمونځ كونكى دې په تندى اوپوزه دواړو باندې سجده وكړي ولى چې نبى كريم ﷺ په همدې شان سجده كولو باندې مواظبت كړى دى ،كه له تندى اوپوزې دواړو څخه صرف په يوه اكتفاء وكړي نو كه يې صرف په تندى باندې اكتفاء وكړه نو داحنافو رحمهم الله تعالى په نزد دابالاتفاق جائز ده ،اوكه يې صرف په پوزه باندې اكتفاء وكړه نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد مع الكراهة جائزده ولى چې په قرآن مجيد كې مطلقاً دسجدې حكم شوى دى اوسجده دمخ يوځه حصه پر ځمكه په ايښودلو سره متحققه كيږي ولى چې ټول مخ پرځمكه ايښودل ممكن نه دى،اوبيا له بعض څخه باړخواوزنې بالاجماع خارج دې نو په مخ كې پوزه اوتندى پاتې شو نومعلومه شوه چې دادواړه دسجدې محل دې په دې وجه له دې دواړو څخه په كوم يوه باندې اكتفاء كول جائزده .

ف:دتندې په باره كې دا تفصيل دى چې په مطلق تندى باندې سجده كول فرض دى كه څه هم دتندى يوځه حصه پر ځمكه باندې كښيښودل شي البته دتندې اكثره حصه پر ځمكه ايښودل واجب ده لمافي الشامية:اختلف هل الفرض وضع اكثر الجبهة ام بعضها ،وان قل؟الاول ،ارجحها الثاني،نعم وضع اكثر الجبهة واجب الخ(ردالمحتار ج ۱ ص۳۶۸)

ف:دصاحبين رحمهما الله تعالى په نزد بلاعذر په پوزه باندې اكتفاء كول جائزنه ده ،دصاحبينو دليل هغه حديث دى كوم چې حضرت عبدالله ابن عباس رضى الله تعالى عنهما نقل كړى دى چې نبى كريم ﷺ وفرمايل چې ماته په اوو(۷)اعضاو باندې دسجدې كولو حكم شوى دى مگرپه هغه (۷)كې يې دپوزې ذكرنه ده كړى لهذا ثابته شوه چې پوزه دسجدې محل نه دى اوكله چې دسجدې محل نه دى نو پردې اكتفاء كول هم صحيح نه ده . دصاحبينو پر قول فتوى ده ،له امام صاحب څخه هم ددوئ قول ته رجوع ثابته ده ،لما قال شارح التنوير :ومنعا الاكتفاء بالانف بلاعذر واليه صح رجوعه وعليه الفتوى كما في شرح الملتقى (ردالمحتار ج ۱ ص۳۶۸) ليكن علامه ابن الهمام رحمه الله په فتح القدير ج۱ص۲۶۴،كې فرمايې چې كه دصاحبينو دوړاندې كړل شوي حديث په وجه سره صرف په پوزه دسجدې كولوعدم جوازومنل شي نودخبرواحدپه ذريعه به پر كتاب الله باندې زيادت لازم شي لهذاپه دواړوقولونوكې په دې دول سره تطبيق كول مناسب دې چې دامام صاحب قول پر كراهت تحريمي اودصاحبينوقول پروجو ب الجمع باندې حمل كړاى شي په دې ډول به اختلاف رفع شي

اوله حديث څخه به وجوب ثابت شي كوم چې پركتاب الله باندې زيادت نه دی ،همداخبره علامه شامي ﷫ خوښه كړې ده لكه چې فرمايي: فالاشبه وجوب وضعهما معا و كره ترک وضع كل تحريما و اذا كان الدليل ناهضا به فلا بأس بالقول به (ردالمحتار ج ۱ ص ۳۶۹).

(۱۰۷)قوله او بكور عمامته اى وكره بكور عمامته .يعنى كه لمونځ كونكى دپګړۍ په ول باندې ياپه زياته جامه باندې بلاضرورته سجده وكړي نومع الكراهة جائزده ولی چې له حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی﴿ان النبي ﷺ كان يسجد على كور عمامته ﴾ (يعنى حضور ﷺ دخپلې پګړۍ په ول باندې سجده كوله) اوهمداشان حضرت أنس ﷺ فرمايي ﴿كنا نصلي مع النبي صلى الله عليه وسلم في شدة الحر فاذا لم يستطع أحدنا أن يمكن جبهته من الأرض بسط ثوبه فسجد عليه﴾ (يعنى موږ به له رسول الله ﷺ سره په سخته ګرمي كې لمونځ كوی نو كله چې به يوه له موږ څخه طاقت نه درلود چې مخ پر ځمكه باندې كېښېږدي نو خپله جامه به يې خپره كړه او پر هغې به يې سجده كوله)مګر داپه هغه وخت كې ده چې ددفع مشقت لپاره وي او كه ددفع مشقت لپاره نه وي نوبالاجماع مكروه ده.

(۱۰۸)وَأَبْدَى ضَبْعَيْهِ وَجَافَى بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ (۱۰۹)وَوَجَّهَ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ (۱۱۰)وَسَبَّحَ فِيهِ ثَلَاثًا (۱۱۱)وَالْمَرْأَةُ تَنْخَفِضُ وَتُلْزِقُ بَطْنَهَا بِفَخِذَيْهَا (۱۱۲)ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مُكَبِّرًا وَجَلَسَ مُطْمَئِنًّا وَكَبَّرَ وَسَجَدَ مُطْمَئِنًّا (۱۱۳)وَكَبَّرَ لِلنُّهُوضِ بِلَا اعْتِمَادٍ وَقُعُودٍ

ترجمه :او بازوګان دې له تخرګو څخه لرې كړي ،اونس دې له ورنو څخه لرې كړي ،اودپښو ګوتې دې دقبلې طرف ته متوجه كړي ،اوپه سجده كې دې دري ځله تسبيح ووايي ،اوښځه دې په سجده كې كښته (ښتي)اوسي اونس دې له ورنوسره ونښلوي ، بيادې سر راپورته كړي په داسې حال كې چې تكبير ويونكې وي اوپه اطمينان سره دې كښيني ،اوتكبيردې ووايي سجده دې وكړي په اطمينان سره بيادې دپورته كېدو لپاره تكبيرووايي په يو شي له تكيه كولو څخه بغيرا وله كښيناستلو څخه بغير.

تشريح :(۱۰۸)دسجدې په حالت كې دې لمونځ كونكى خپل بازوګان له خپلوبغلونو (تخرګو)څخه لرې وساتي او خپل نس دې له خپلو ورنو څخه لرې وساتي ولی نبی كريم ﷺ چې به كله سجده كولو نونس به يې له ورنو څخه لرې كاوو او څنګلې به يې له ځمكې څخه لورې ايښودلې حتى كه دپسه كوچنى بچى دنبی كريم ﷺ دلاسونو ترمنځ تيريدل غوښتې واى نوتيريداى شواى ،همدراز نبی كريم ﷺ حضرت ابن عمر ﷺ ته وفرمايل ﴿وابد ضبعيك عن جنبيك﴾ (خپل بازوګان له خپلوبغلونو څخه لرې وساته).

ف:مګر دبازوګانو له بغلو څخه دليرې كولو حكم په هغه وخت كې دی چې لمونځ كونكى يواځې وي او كه په صف كې وي نوپه دې شان كولو كې نوروته ضرر ده په دې وجه دې له داشان كولو څخه ځان وساتي لمافى شرح التنوير:(ويظهر عضديه)فى غير زحمة(ردالمحتار ج ۱ ص ۳۷۲)

(۱۰۹)دسجدې په وخت كې دې دپښو ګوتې دقبلې طرف ته متوجه كړي ،لقوله ﷺ ﴿اذا سجد العبد يسجد كل عضو منه فليوجه من اعضائه الى القبلة مااستطاع ﴾ (نبی كريم ﷺ فرمايلې دي چې كله يوبنده سجده كوي نودهغه هر عضوسجده كوي بس نو چې څومره طاقت يې وي خپل اعضاء دې د قبلې طرف ته متوجه كړي).

ف:دسجدې په وخت كې دپښو دګوتو پر ځمكه په ايښودلو كې دري قوله دي ،فرض دي،واجب دي،سنت دي،مشهورقول دادی چې دنفس ګوتو ايښودل فرض دي حتى كه چاسجده وكړه اوګوتې يې له ځمكې څخه لورې نيولې وي (يعنى پر ځمكه يې نه كښيښودې)نوجائزنه ده مګرعلامه شامي وجوب ته ترجيح وركړې

ده لمافي الشامية: والحاصل ان المشهور في كتب المذهب اعتماد الفرضية والارجح من حيث الدليل والقواعد عدم الفرضية ولذاقال في العناية والدرر انه الحق ثم الاوجه حمل عدم الفرضية على الوجوب والله اعلم. (ردالمحتارج ۱ ص ۳٦۹)

(۱۱۰) لمونځ كونكى دې په سجده كې درې ځله «سبحان ربى الاعلى» وايي اودا (يعنى درې ځله) دكامل سنت كمه درجه ده، لقوله ﷺ «واذاسجداحدكم فليقل في سجوده سبحان ربى الاعلى ثلاثا وذالك ادناه» (يعنى كله چې له تاسو څخه يو سجده كوي نو په سجده كې دې درې ځله «سبحان ربى الاعلى» وايي اودادهغه كمه درجه ده).

(۱۱۱) اودښځې لپاره حكم دادى چې په سجده كې دې ټيټه (كښته) اوسي اونس دې له ورنوسره نښلوي ولى چې په دې شان سجده كولو كې دهغې لپاره سترزيات دى كوم چې دښځې په حق كې مطلوب دى همدا شان روايت شوى دى «أنّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَرَّ على امرأتين تُصَلِّيَانِ فقال إذا سجدتما فضمّا بعض اللحم إلى بعض» (يعنى نبى ﷺ په دوښځوتيرشوهغوئ لمونځ اداء كاوو نوحضور ﷺ ارشادوفرمايه كله چې تاسې سجده كوى نو خپلې ځينې غوښې له خپلو ځينونوروغوښوسره نښلتې وساتئ).

(۱۱۲) قوله ثم رفع راسه اى ثم رفع المصلى راسه «يعنى بيا چې كله له اولې سجدې څخه سرراپورته كوي نوتكبيردې ووايي ولى چې نبى كريم ﷺ په لمانځه كې دكښته كيدو اوپورته كيدوپروخت تكبيروايو، اوپه اطمينان سره دې سيده كښيني ولى چې نبى كريم ﷺ اعرابى ته دتعليم وركولوپه وخت كې وفرمايل چې «ثم ارفع راسك حتى تستوى جالسا» (يعنى بيا له سجدې څخه سرراپورته كړه ترڅوچې سيده كښيني) بيادې په تكبيرويلوسره دوهمې سجدې ته ولاړشي.

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دواړوسجدوپه منځ كې سرله ځمكې څخه راپورته كول ضروري دى، البته سوال دادى چې له اولې سجدې څخه په څومره اندازه سرراپورته كول ضروري دى؟ نواصح داده چې كه حالت سجدې ته قريب وي نودوهمه سجده معتبره نه ده لهذا دالمونځ صحيح نه دى اوكه حالت قعودته ډيرقريب وونوصحيح ده لماقال شارح التنوير: وصحح في الهداية انه ان كان الى القعود اقرب صح والالاورجحه في النهر والشرنبلالية. (ردالمحتارج ۱ ص ۳۷۳)

ف: دسجدې تكرار دحضور ﷺ له فعل څخه په تواترسره ثابت دى، بيادتكرار په وجه كې مختلف اقوال دي بعض حضرات وايي چې دا امرتعبدي دى اودامرتعبدي دليل نه غوښتل كيږي، بعض حضرات بيا وايي چې شيطان حضرت آدم عليه السلام ته سجده نه وكړه فرشتوترغيما له، دوهمه سجده وكړله، بعض حضرات بيا وايي چې په اولنى سجدې سره دې ته اشاره ده چې الله ﷻ موږله ځمكې څخه پيدا كړي يو اوپه دوهمه سجده كې دې ته اشاره ده چې موږبه دوهم ځل دځمكې طرف ته ګرځول كيږو، قال الله ﷻ «منها خلقناكم وفيها نعيدكم» اوويل شوي دي چې اوله سجده دايمان دشكريه لپاره ده اودوهمه سجده دبقاء ايمان دشكريه لپاره ده.

ف: دنوافلواداء كونكى اومنفرد لپاره، په ركوع، اوسجده، اوقومه اوجلسه، كې دهغوټولواذكار ويل مستحب دى، كوم چې دهمدې مواقعو (ځايونو) لپاره په احاديثو كې وارد شوي دي، لكه چې دقومه او جلسه په باره كې «اللهم اغفرلى» يادجلسه په باره كې دابوداؤد په روايت كې «اللهم اغفرلى وارحمنى وعافنى واهدنى وارزقنى» وارد شوى دى، اوداحكم دهغه امام لپاره هم دى چې دهغه مقتديان محدود وي اووامام ته معلومه

وي چې دلمانځه اوږديدل پر هغوئ باندې نه تکليف کيږي ،كذا في الشامية :بل ينبغي ان يندب الدعاء بالمغفرة بين السجدتين خروجا من خلاف الامام احمد لابطاله الصلوة بتركه عمدا ولم أر من صرح بذالک عندنا لكن صرحوا باستحباب مراعاة الخلاف وفيه تحت قول الدر المختار :وما ورد محمول على النفل ،لم الحمل المذكور صرح به المشائخ في الوارد في الركوع والسجود وصرح به في الحلية في الوارد في القومة والجلسة ،وقال ،على انه ان ثبت في المكتوبة فليكن في حالة الانفراد او الجماعة والمامومون محصورون لايثقلون بذالک ،كمانص عليه الشافعية ولاضرر في التزامه وان لم يصرح به مشائخنا فان القواعد الشرعية لاتنبوعنه.(ردالمحتار ج ١ ص ٣٧٣)

(١١٣)کله چې دوهمه سجده په اطمينان سره وکړي نودولاړيدولپاره دې تکبيروواېي لماروينا، اوله سجدې څخه دې دخپلوپښو په سينه سيده ولاړشي نه دې بلاعذر ه جلسه استراحت کوي اونه دې پرلاسوتکيه کوي﴿لحديث ابى هريرة ﷺ ان النبى ﷺ كان ينهض فى الصلوة على صدورقدميه ﴾ (يعنى حضور ﷺ به دپښوپر سينوولاړيدى).

ف :امام شافعى رحمه الله فرمايي چې ددوهمې سجدې څخه وروسته دې ترقيام مخکې خفيفه جلسه استراحت وکړي ولی چې له حضور ﷺ څخه جلسه استراحت ثابته ده ،احناف ځواب ورکوي چې دحضور ﷺ عمل دعمرپه ډيروالی باندې محمول دی که نه نو نبی ﷺ به دګوتوپه سينوپورته کيدی ، کمافی حديث ابی هريرة ﷺ ،اوهمداشان حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ جلسه استراحت کړي ده بيايې دهغې د عذرپه وراندې کولوسره وويل چې مادکمزورۍ په وجه داسې وکړل ، همداشان که جلسه استراحت مشروع وي نوبيابه له جلسه استراحت څخه د پورته کيدوپه وخت کې تکبيرهم مشروع وي.

(١١٣)وَالثَّانِيَةُ كَالْأُولٰى إِلَّا أَنَّهُ لَا يُثْنِي وَلَا يَتَعَوَّذُ(١١٥)وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ إِلَّا فِي فقعس صمعج(١١٦)وَإِذَا فَرَغَ مِنْ سَجْدَتَيِ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ افْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَجَلَسَ عَلَيْهَا وَنَصَبَ يُمْنَاهُ وَوَجَّهَ أَصَابِعَهُ نَحْوَ الْقِبْلَةِ وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى فَخِذَيْهِ وَبَسَطَ أَصَابِعَهُ(١١٧)وَهِيَ تَوَرُّكٌ(١١٨)وَقَرَأَ تَشَهُّدَ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه

ترجمه:او دوهم رکعت داول په شان دی ماسوا له دې چې ثناء ،اوتعوذ ، به نه واېي ،اونه دې لاسونه پورته کوي مګر په، فقعس صمعج کې ،اوکله چې ددوهم رکعت له سجدوڅخه فارغ شي نوخپره دې کړي چپه پښه اوپر هغه دې کښيني اوراسته پښه دې ودروي اودهغې ګوتې دې قبلې ته متوجه کړي ، اوخپل دواړه لاسونه دې په ورنو باندې کښيږدي اوخپرې دې کړي خپلې ګوتې ،اوښځه دې تورک وکړي ،اودابن مسعود ﷺ تشهددې وواېي.

تشريح:(١١٤)قوله والثانية كالاولى اى والركعة الثانية كالركعة الاولى ،يعنې په دوهم رکعت کې دې هغه ټول كارونه وکړي کوم چې په اول رکعت کې کړي دې يعنى قيام ،قرأة ،رکوع وغيره ،ولی چې په دوهم رکعت کې دارکانوتکراردی اوتکرار داول داعادې تقاضا کوي ،البته په دوهم رکعت کې دې استفتاح ،يعنی سبحانک اللهم ،نه واېي ،اونه دې تعوذ ،(يعنی أعوذبالله)واېي ولی چې دا دواړه کلمې په لمانځه کې يوځل مشروع دي په دې وجه چې دنبی کريم ﷺ دلمانځه له روايت کونکوڅخه ددی تکرارثابت نه دی.

(١١٥)او رفع اليدين دې نه کوي مګر په دې اتوځايونوکې دکوموپه شروع کې حروف ،فقعس صمعج ،دي، دکوموچې تفصيل په دې ډول دی چې له ،ف،څخه افتتاح الصلوة مراد ده يعنی دلمانځه په شروع کې دتکبيرويلوپروخت دې دواړه لاسونه پورته کوي ،اوله ،ق،څخه قنوت وترمراد دی يعنی په

وتروکي ددعاء قنوت دشروع کولو په وخت دي لاسونه پورته کوي ،اوله ،ع،څخه د عيدينو تکبيرات مراد دي اوله ،س،څخه استلام حجر مراد دی يعنی دحجر اسود دمچولو په وخت کې دي دواړه لاسونه پورته کوي،اوله،ص،څخه په صفاء غونډی باندي دتکبيرويلووخت مراددی اوله،م،څخه دمروه په غونډی دتکبيرويلووخت مراددی،اوله ،ع،څخه دعرفات ،اوله ،ج،څخه دجمره دويشتلو په وخت کې دلاسونوپورته کول مراددي ،له دي اتو ځايونو څخه ماسوا رفع يدين نشته ولی چې نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چې لاسونه دي نه پورته کيږي مگرپه اوو ځايونو کې ،(۱)دتکبيرتحريمه پر وخت (۲)دتکبيرقنوت ويلوپر وخت (۳)په تکبيرات العيدين کې ،اوڅلور تکبيرونه يې په حج کې ذکرکړې دي لهذا دلمانځه له تکبيرتحريمه څخه ماسوا په نوروتکبيراتوکې رفع اليدين نشته ،په حج کې صفاء اومروه دواړه ځايونه يوځائ بللی دی په دې وجه په حديث شريف کې درفع اليدين تعداد اوه شودلی دی که نه نو په حج کې رفع اليدين په پنځوځايونوکې ده .

ف:داچې وي ويل چې رفع اليدين صرف په اوو ځايونوکې ده له دي څخه مراد داده چې په اووځايونو کې رفع يدين سنت مؤکده ده ،که نه نو له دي اووځايونو څخه علاوه هم رفع اليدين ثابت ده ،لکه چې ددعاء اواستسقاء په وخت کې رفع اليدين مستحب دی قال ابن عابدين الشامی رحمه الله :(قوله کالدعاء)ای کمایرفعهما لمطلق الدعاء فی سائرالامکنة والازمنة علی طبق ماوردت به السنة ومنه الرفع فی الاستسقاء فانه مستحب کماجزم به فی القنية خزائن (ردالمحتارج ا ص۳۷۵).

ف :د امام شافعی رحمه الله په نزد به رکوع ته دتللو په وخت کې اوله رکوع څخه دپورته کيدلو په وخت کې هم رفع اليدين کوي ولی چې له حضور ﷺ څخه په دې ځايونوکې هم رفع اليدين ثابت ده .احناف ځواب ورکوي چې دامنسوخ دی ولی چې له حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی ﴿قال صَلَّيتُ مع النبي صلى الله عليه وسلم وأبي بكرٍ وعُمَرَ فلم يَرفَعوا أيدِيَهم إلا عِندَ افتِتاحِ الصَّلاةِ ﴾(يعنی ماله کريم ﷺ اوحضرت ابو بکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه سره لمونځ کړی دی دغو دريو به صرف دتکبيرافتتاح په وخت کې رفع اليدين کوله).

(۱۱۶)يعنی کله چې لمونځ کونکی په دوهم رکعت کې له دوهمې سجدې څخه خپل سر راپورته کړي نوچپه پښه دې خپره کړي اوپرهغې دې کښينی ،اوراسته پښه دې ودروي اودپښوګوتي دې دقبلې طرف ته متوجه کړي ،اولاسونه دي په ورنوکښيږدي ،اوګوتي دي خلاصي کړي ولی چې حضرت عائشة رضی الله عنها دنبی کريم ﷺ قعودپه همدې کيفيت سره بيان کړی دی .

ف :مصنف رحمه الله صرف دومره وويل ،بسط أصابعه ،داشاره بالسبابة ذکر يې ونه کړ حال داچې اشاره بالسبابة سنت ده اواشاره نه کول دروايت اودرايت خلاف دي ،په دې هکله ترټولو جامع تشريح هغه ده کوم چې حضرت شيخ الاسلام مفتی محمد تقی عثمانی دامت برکاتهم په درس ترمذی کې فرمايلې ده دهمدې په الفاظوکې يې ملاحظه کړئ ،باب ماجاء فی الاشارة ،،ورفع اصبعه التی تلی الابهام يدعوبها،،دحضرت ابن عمر رضی الله عنه ددې حديث په بناء دجمهور سلفواوخلفو اتفاق دی چې اشاره بالسبابة مسنون ده اوددې په سنيت باندې ډير روايات شاهد دي البته ځرنګه چې دحنفيه ؤپه ظاهر الرواية اومتون معتبره ؤکې داشارة بالسبابة ذکر نشته نه اثباتا نه نفيا ددې په بناء بعضو متأخرينو اشارة بالسبابة غيرمسنون بللې ده بلکه په خلاصه کيدانی کې

يې بدعت بللې ده اوبعضو حضراتو خويېخې له ډير تشدد بزياتې څخه كار اخستى دى اوپه دې مسئله باندې ئې دبحث كولو په وخت كې تردې حده ويلي دي ماراقول اباحنيفه بايدقول رسول الله ﷺ كافى نيست (العياذبالله).

حال داچې حقيقت دادى چې داشاره بالسبابة ،په سنتيت كې معمولې شک هم نشته ولى چې ددې روايات دشهرت ترحده رسيدلې دي اوتركومه چې دحنيفه ؤدظاهر الرواية په كتابوكې د اشارة بالسبابة دعدم ذكرتعلق دى نوپه دې وجه خوپه احاديث صحيحه باندې ترک عمل په هيڅ وجه سره صحيح نه دى ولى چې زيات ترزيات داخوعدم ذكردى اوعدم ذكرعدم الشئ ته مستلزم نه وي ، همدا رازپه خپله امام محمد رحمه الله په مؤطاكې داشاره بالسبابة حديث ذكركړى دى اوفرمايلې يې دي ، قال محمد: وبصنع رسول الله ﷺ ناخذوهوقول ابوحنيفه رحمه الله ،له دې تصريح څخه وروسته دكومې شبه څه گنجائش پاتې كيږي .

پاتې شوه دخلاصه كيداني خبره هغه خو دفقه حنفى كوم معتبر كتاب نه دى بلكه دهغې مصنف هم نامعلوم دى علامه شامى رحمه الله په شرح عقود رسم المفتى كې ليكي چې محض ددې كتاب په كتلوسره فتوى وركول جائزنه دي په اصل كې داشاري منكرينوته چې دكوم شخصيت په فتوى سره ډيرتقويت حاصل شوهغه مجدد الف ثانى رحمه الله دى ده په خپل مكتوبات كې داشارة بالسبابة له سنّيت څخه انكار كړيدى اوپردې يې طويل بحث كړى دى چې دهغه خلاصه داده ،چې داشارة بالسبابة احاديث مضطرب المتن دي ولى چې داشاري دهيئتونوپه بيان كې شديد اختلاف دى اوكه داضطراب پر بناء حنفيه دقلتينو حديث رد كولى شي نوداشاره بالسبابة احاديث هم په دې بناء ردكيداى شي .

ليكن دانصاف خبره داده چې دمجدد ألف ثانى دجلالت قدر اوعلوشان سره سره په دې مسئله كې دده تائيد نه شي كيدلاى ،لان الحق ان الحق ليس معه فى هذه المسئلة ،لكه چې حضرت شاه صاب رحمه الله دحضرت مجدد ألف ثانى د استدلال ځواب كې وايي چې داشاري دهيئت په هكله چې په رواياتوكې كوم اختلاف دى دې اختلاف ته اضطراب نه ويل كيږي ولى چې اضطراب هغه وخت وي چې حديث يو وي اودهغه په الفاظو كې ناقابل تطبيق اختلاف وي اودلته دا صورت نه دى ولى چې دا اختلاف ديوه حديث دالفاظو اختلاف نه دى بلكه دډيروصحابه كرامو درو ايتونو اختلاف دى اوددې اختلاف په اساس دټولورواياتو داقدر مشترک نه شي ردیدلى چې اشاره فى التشهد مسنون ده په داسې حال كې چې ددې قدرمشترک ثبوت هم په شهرت سره وي ،له دې ماسواددې پرسنيت اجماع هم ده ،بياتركومه ځايه چې ددې دمختلفو هيئتونو تعلق دى هغه په حقيقت كې دواقعاتو بزمانې اختلاف دى چې كله نبى كريم ﷺ په يوه هيئت سره اشاره كړې ده اوكله يې په بل هيئت سره ،دې اختلاف ته دمحدثينو داصطلاح مطابق اضطراب نه ويل كيږي ،اوداشارى چې كوم هيئتونه په احاديثوكې ثابت دي له دې څخه په هر يوه باندې عمل كول جائزدى ليكن زموږ په نزد ترجيح دې ته حاصله ده چې په ابهام (بټه گوته)اووسطى سره يوه حلقه جوړه شي اوپه سبابه سره اشاره وكړل شي، فيرفعها عندالنفى (اى لااله) ويضعها عندالاثبات (اى الاالله) (درس ترمذى : ج٢ص٦٢)

دحضرت مجدد ألف ثاني رحمه الله دفتوى په باره کې حضرت شيخ الحديث مولانا سليم الله خان دامت برکاتهم فرمايي: مجدد الف ثاني رحمه الله د اشاري مخالف ورپه دي وجه چې په هغه وخت کې داحاديثو دومره کتابونه نه وو چاپ شوي په دي وجه هغه ته علم نه وو حاصل شوی. (مجالس علم وذکر ج١ص٥٦)

ف: دبعضواکابرينو په فتاوى کې مې ليدلي دي چې داشارې وروسته دي داشاري کيفيت بالکليه نه ختموي بلکه دشهادت گوته دي لږڅه راکښته کړي اودبعضو شوافعو اومالکيه ؤ څخه هم منقول دي چې اشاره بالسبابة دي دلمانځه تر اختتام پورې برقرار وي، مګر علامه ظفراحمد عثماني رحمه الله فرمايي چې فتوى زموږ په نزد پردي ده چې پر لااله دي اشاره وکړي اوپه الاالله دي اشاره ختمه کړي ولي چې په حديث شريف کې دبسط سبابه ذکر دی اوبسط اشاري ته مستلزم نه دی نوددي مطلب دادی چې سبابه دي له نورو گوتو سره نه ملګرې کوي دانه چې اشاره دي برقرار روساتي: ولايخفى ان بسط السبابة اعم من الاشارة..........ولو عرفت ان الفتوى عندنا على ان يرفع عند النفي ويضع عند الاثبات وسياتي الجواب عن رواية ابي داؤد هذه (اعلاء السنن ج٣ص١١٠)..........ومارود في حديث ابي يعلى عن عاصم بن كليب عن أبيه عن جده، انه ﷺ قبض اصابعه ويشير بالسبابة، وهو يقول: يامقلب القلوب ثبت قلبي على دينك، كماذكره القاري في تزيين العبارة (ص:٨) وهويدل على عدم وضع السبابة على قوله: الا الله، بل يشعر ببقاء الاشارة الى وقت الدعاء في آخر الصلوة. فالجواب عنه أنه اراد بقوله: يشير بالسبابة، أنه لم يقبضها مثل غيرها من الأصابع بل كانت مبسوطة، فعبر البسط بالاشارة، يدل عليه رواية الترمذي بلفظ: بسط السبابة، والله اعلم. وايضا فلم أقف على صحة هذه الرواية التي اخرجها ابويعلى، يمكن الجمع بين الروايتين بما قررناه آنفا على تقدير صحتها، فلا اشكال (اعلاء السنن ج٣ص١١٣)

(١١٧) دښځې لپاره حکم دادی چې په التحيات، کې په تورک کولو سره کښيني يعنى دواړې پښې دي راسته طرف ته وباسي اوپر چپه کوناټې دي کښيني ولي چې په دي شان ناسته کې ستر ډيردی کوم چې دښځې په حق کې مطلوب دی.

ف: صاحب الجوهره ويلي چې دښځې لمونځ په لسوځايو کې دنارينه دلمانځه څخه مختلف دی ښځه به دتکبيرتحريمه په وخت کې خپل لاسونه تراوږو پورته کوي، اوراسته لاس به په چپه لاس ترسيني لاندې ايږدي، اونس به له ورنوڅه نه لري کوي، اوبازوګان به له بغلوڅه نه لرې کوي اوپه تشهد کې په تورک کښيني، اوپه رکوع کې به د ،لاس، ګوتې نه خلاصوې اودنارينه و امامت به نه کوي ددوئ جماعت مکروه دی که چيرته وونو امامت کونکې به دصف په منځ کې دريږي، په موضع جهر کې به قرأت په لوړ اواز سره نه وايي.

(١١٨) قوله وقرأتشهدابن مسعود رضي الله عنه اى وقرأالمصلي تشهدابن مسعود، يعنى لمونځ کونکی به اوس دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تشهد ولولي. تشهد له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه په مختلفوالفاظو مروی دی حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه داالفاظ نقل کړي دي التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ (يعنى ټول قولی عبادات اوټول فعلی عبادات اوټول مالی عبادات صرف الله جل جلاله لره دي اوای نبی ﷺ پرتادي سلام وي اودالله تعالى رحمت اودهغه برکتونه، اوسلام دي وي پرموږ اودالله تعالى پرنيکانو بندګانو باندې زه ددې خبرې ګواهي ورکوم چې له الله تعالى ماسوا څوک معبود نشته اوزه ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ دالله تعالى بنده اودهغه رسول

دی)حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ ته نبی کريم ﷺ په ډير اهتمام سره د مذکوره بالاتشهد تعليم ورکړی دی لکه چې فرمايي ،اخذ رسول الله ﷺ بيدی و علمني التشهد کما کان يعلمني سورة من القرآن وقال قل التحيات لله الخ (يعنی نبی کريم ﷺ زما لاس ونيوی اوماته يې تشهد راوشودی لکه چې ماته کوم سورة له قرآن مجيد څخه راښودی اووي فرمايل قل التحيات لله الخ)نو احنافو د عبدالله ابن مسعود ﷛ تشهد مختار کړ.

ف: حضرت عبدالله بن عباس ﷛ د تشهد دا لاندي الفاظ نقل کړي دي التحيات المبارکات الصلوات الطيبات لله سلام عليک أيها النبي ورحمة الله وبركاته سلام علينا وعلى عباد الله الصالحين أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا رسول الله ،د حضرت ابن عباس ﷛ تشهد امام شافعی رحمه الله مختار کړی دی ،احناف څواب ورکوي چې حضرت ابن عباس ﷛ په خپل دي تشهد سره متفرد دی ،همدا راز د دي په الفاظو کې ټول روات متفق هم نه دي حال دا چې د حضرت ابن مسعود ﷛ روايت په ټولو صحاح سته وکې مروی دی او د دي په الفاظو کې چيرته کوم اختلاف نشته ،همدا راز نبی کريم ﷺ د تعليم تشهد پر وخت د حضرت ابن مسعود ﷛ لاس نيولی وو کوم چې د انتهائي اهتمام علامه ده او نور و خلکو ته دور شودلو امر يې هم کړی وو او امر لږ ترلږه د استحباب لپاره وي په دي وجه د ابن مسعود ﷛ تشهد راجح دی.

ف:لمونځ کونکی به د فرض لمانځه په قعده اولی کې پر مذکوره بالا تشهد اضافه والی نه کوي او که چاپه هيره سره د اللهم صل علی محمد،يا له دي څخه د زيات اضافه والی وکړ نو پر ده سجده سهو واجب ده او که يې مذکوره بالا اضافه عمدا وکړه نو دا مکروه ده او د لمانځه اعاده واجب ده کما فی شرح التنوير:(ولا يزيد) فی الفرض (علی التشهد فی القعدة الاولی) اجماعا فان زاد عامدا کره)فتجب الاعادة (او ساهيا وجب عليه سجود السهو اذا قال اللهم صل علی محمد) فقط (علی المذهب) المفتی به (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۱/ ۳۷۷، کذا فی الدر المنتقی علی هامش مجمع الانهر: ۱/ ۱۵۲)

سوال :په لمانځه کې السلام عليک ايها النبی انشاء أويل کيږي او که حکاية؟ بينوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب :السلام عليک ايها النبی بلکه ټول تشهد انشاء أويل کيږي ،قال فی شرح التنوير: ويقصد بالفاظ التشهد معانيها مرادة له ،علی وجه الانشاء کانه يحيی الله تعالی ويسلم علی نبيه وعلی نفسه واوليائه لا الاخبار عن ذالک ،ذکره فی المجتبی وظاهره ان ضمير علينا للحاضرين لا حکاية سلام الله تعالی ،وفی الشامية :(قوله لا الاخبار عن ذالک)ای لا يقصد الاخبار والحکاية عما وقع فی المعراج منه ﷺ ومن ربه سبحانه ومن الملائکة عليهم السلام وتمام بيان القصة مع شرح الفاظ التشهد فی الامداد فراجعه (قوله لا حکاية سلام الله تعالی) الصواب لا حکاية سلام رسول الله ﷺ (رد المحتار: ج ۱)

له قرأت څخه ماسوا د لمانځه ټولې وظائفې انشاء ويلې کيږي .لکه چې د لمانځه په حقيقت له غور کولو څخه ښکاريږي. د حقيقت صلوة د تفصيل ليکلو خو نه په دي وخت کې ضرورت شته او نه هم فرصت لهذا صرف د السلام عليک ايها النبی حکمت تحرير کيږي ،له دربار سلطاني څخه د واپس کيدلو په وخت د ځه نذراني د وړاندي کولو دستور دی ،په دي وجه مصلي د التحيات لله والصلوت والطيبات نذرانه وړاندي کوي ،بيا يو دم خيال پيدا کيږي چې دا قرب الهي او مناجاة بالرب صرف د سيد الکونين ﷺ د وجود مسعود په دولت دی ،د هدايت ذريعه صرف د نبی کريم ﷺ وجود دی نو بی ساخته مصلي پر خپل محسن اعظم ومنعم اکرم ﷺ باندي سلام ليږي ،پاتې شو دا اعتراض بالکل لغوه دی چې کله نبی کريم ﷺ حاضر نه دی نو خطاب بې فائدي دی ،په دي وجه چې صلوة وسلام د ملائکه په ذريعه سره د نبی کريم ﷺ خدمت ته رسيږي لکه چې

په خط کې دخطاب صیغې صرف ددي لپاره لیکل کیږي چې خط مخاطب ته رسیږي ،مخاطب مخامخ موجودنه وي فقط والله تعالى اعلم (احسن الفتاوى :۴۸/۳)

(۱۱۹)وَفِيمَا بَعْدَ الأَوَّلَيْنِ اكْتَفَى بِالْفَاتِحَةِ (۱۲۰)وَالْقُعُودُ الثَّانِي كَالأَوَّلِ (۱۲۱)وَتَشَهَّدَ وَصَلَّى على النبي صلى الله عليه وسلم (۱۲۲)وَدَعَا بِمَا يُشْبِهُ أَلْفَاظَ الْقُرْآنِ وَالسُّنَّةِ لَا كَلَامَ الناس (۱۲۳)وسلم مع الإمام كَالتَّحْرِيمَةِ عن يَمِينِهِ وَيَسَارِهِ (۱۲۴)نَاوِيًا الْقَوْمَ وَالْحَفَظَةَ وَالإِمَامَ في الْجَانِبِ الأَيْمَنِ او الأَيْسَرِ او فِيهِمَا لو مُحَاذِيًا وَالإِمَامُ يَنْوِي الْقَوْمَ بِالتَّسْلِيمَتَيْنِ

ترجمه :اوله اولنیو دورکعتونو څخه وروسته دي اکتفاء وکړي پرفاتحه ،اوقعودثانی داول په څیرده، اوتشهددي ولولي اوپرنبی کریم ﷺ دي درود ووايي ،اوداسې دعاء دي وکړي کومه چې دقرآن یا حدیث له الفاظوسره مشابه وي نه دخلکو له کلام سره ،اوسلام دي وګرځوي له امام سره دتحریمې په شان خپل ښي اوکیڼ طرف ته ،په نیت کولوسره دقوم، دحفظه فرشتو ،اودامام په ښي یاکیڼ طرف کې یاپه دواړوکې که امام په محاذات کې وي اوامام دي په دواړو سلامونوکې دقوم نیت وکړي .

تشریح :(۱۹)لمونځ کونکی به دفرض لمانځه له اولنیو دورکعتونو څخه په وروسته کې صرف پرفاتحه اکتفاء کوي یعنی دماپښین ،مازدیګر اوعشاء په آخیري دوورکعتونوکې اودمغرب په آخیري یوه رکعت کې به صرف سوره فاتحه وايي ﴿لحديث ابی قتادة ﷺ انه ﷺ كان يقرأ في الظهر في الاوليين بام الكتاب وسورتين وفي الاخريين بام الكتاب﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ به دظهرپه اولنیو دوورکعتونوکې سوه فاتحه اونورسورتونه ویل اوپه اخیري دوورکعتونوکې به یې صرف سوره فاتحه ویله)،هودنوافلوپه هررکعت کې سورت یوځای کول هم ضروري دی کماسیأتی ان شاء الله تعالى .

ف:دقول راجح اومحقق په مطابق لمونځ کونکی ته دفرض لمانځه له اولنیو دوورکعتونو څخه وروسته اختیاردی که یې خوښه وي سوره فاتحه دي ولولي ،اوکه یې خوښه وي نورتسبیحات دي ووايي اوکه یې خوښه وي بقدرركن دي خاموش ودریږي،البته فاتحه لوستل افضل دي كمافي الدرالمختار:واكتفى المفترض فيما بعد الاوليين بالفاتحة فانها سنة على الظاهر،وهو مخير بين قراة الفاتحة ....وتسبيح ثلاثا وسكوت قدرها،وقال العلامة الشامي: بعدمابسط فيه،اعلم انهم اتفقوا في ظاهر الرواية على ان قراة الفاتحة افضل وعلى انه لواقتصر على التسبيح لايكون مسيئا واما لوسكت فصرح في المحيط بالاساءة ....وصرح غيره بالتخيير بين الثلاثة في ظاهر الرواية وعدم الاساءة بالسكوت .قال في البدائع :والصحيح جواب ظاهر الرواية لماروينا عن علي وابن مسعود رضي الله عنهما انهما كانا يقولان :المصلي بالخيار في الاخريين ان شاء قرأ وان شاء سكت وان شاء سبح وهذاباب لايدرك بالقياس فالمروى عنهما كالمروى عن النبي ﷺ وفي الخانية :وعليه الاعتماد،وفي الذخيرة :هو الصحيح من الرواية ورجح ذالک في الحلية بمالامزيدعليه ....فقداتفق الكل على افضلية القراة ....ثم اعلم ان اتفاقهم على افضلية الفاتحة لاينافي التخيير اذلامانع من التخيير بين الفاضل والافضل كالحلق مع التقصير (الدر المختار مع الشامية: ۳۷۷/۱)

(۱۲۰)لمونځ کونکی به په قعده اخیره کې پرهغه هیئت کښیني پرکوم هیئت چې پرقعده اولی کښینستی وولی چې حضرت عائشې ﷺ دنبی کریم ﷺ ناسته پرهمدي کیفیت سره بیان کړي ده . دامام مالک ﷫ په نزدبه په دواړو قعدو کې تورک کوي ،دامام شافعی ﷫ په نزدبه په قعده اخیره کې تورک کوي یعنی ددوئ په نزدد ښځوپه شان په کناتو کښینستل مسنون دي ولی چې له نبی کریم ﷺ څخه تورک ثابت دی ،احناف ځواب ورکوي چې دنبی کریم ﷺ تورک دعمرددیروالي پروخت محمول دی .

(١٢١)په اخيره ناسته کې دي تشهدوايي ،اوتشهدويل زموږپه نزدواجب دي له تشهدڅخه وروسته دي درودشريف ووايي دردودويل مسنون دي دليل دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ حديث دی ﴿إذا قلت هذا أو فعلت هذا فقد تمت صلاتک﴾ (کله چې نبی کريم ﷺ عبدالله ابن مسعود ﷺ ته دتشهدتعليم ورکړنووي فرمايل چې کله ته داووايې يايې وکړي نوستالمونځ پوره شوه)وجه استدلال داده چې په حديث کې دلمانځه پوره والی په تشهداوقعده اخيره کې په يوه پوري معلق کړل شوی دی اوپردي اتفاق دی چې دلمانځه پوره والی په قعده اخيره پوري معلق دی اوکله چې پرقعده اخيره پوري معلق شونوقرأة تشهدپوري معلق نه دی که نه نو په لفظ حديث کې چې په لفظ داوسره اختيارورکړل شوی دی هغه اختيارباقی نه پاتې کيږي لهذاتشهدفرض نه دی ،همداشان درودشريف هم فرض نه دی که نه نو داتمام صلوة تعليق به په دري شيانوپوري راشي حال داچې په حديث شريف کې اتمام صلوة صرف په دووشيانوپوري معلق دی .دامام شافعی ﷫ په نزدقرأة تشهداودرودشريف ويل فرض دي حتی که چاپرينښودل نودهغه لمونځ نه صحيح کيږي .

(١٢٢)يعنی له درودشريف څخه وروسته چې لمونځ کونکی کومه دعاء وغواړي کولی يې شي مګرددعاء الفاظ به دقرآن له الفاظوسره مشابه وي لکه اللهم اغفرلي ولوالدي الخ.يا ربنا اتنا في الدنيا حسنة وفي الاخرة حسنة الخ .يادي دعاوسره مشابه چې کومې دعاوي له نبی کريم ﷺ څخه مروی دي لکه چې حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ په دي الفاظوسره دعاء کولو اللهم اسئلک من الخير کله ما علمت منه ومالم اعلم واعوذبک من الشر کله ما علمت منه ومالم اعلم.

په داسي الفاظوسره دي دعاء نه کوي کوم چې له کلام الناس سره مشابه وي مثلاداسي شيانوغوښتل چې دهغه له بنده څخه غوښتل محال نه وي لکه اللهم زوجني فلانة ولی چې داله کلام الناس سره مشابه ده اودکوموشيانوچې له بندګانوڅخه غوښتل محال وي لکه اللهم اغفرلي نوداله کلام الناس سره مشابه نه دي لهذاداجائزدي .

(١٢٣)قوله وسلم مع الامام کالتحريمة ای سلم مقارنا مع الامام کما انه يحرم مقارنا لتحريمة الامام.يعنی بيادي له امام سره ښی اوکيڼ طرف ته سلام وګرځوي لکه څرنګه چې په شروع کې له ده سره الله اکبرويلی وو ولی چې دواړه طرف ته سلام ګرځول په روايت ثابت دي لکه چې حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمايي ﴿ان النبی ﷺ کان يسلم عن يمينه وعن يساره السلام عليکم ورحمة الله السلام عليکم﴾ (يعنی نبی کريم ﷺ به ښی اوکيڼ طرف ته سلام ګرځاوواوفرمايل به يې السلام عليکم ورحمة الله،السلام عليکم ورحمة الله)،اوله امام سره دسلام ګرځولو وجه داده چې دتکبيرپه باره کې ارشاددی ﴿اذا کبر الامام فکبر﴾(کله چې امام تکبيروووايي نوتاسې هم تکبير ووايا ست)لفظ اذادوخت لپاره دی ای کبر وا وقت تکبير الامام لهذاپه تکبيرکې معيت ثابت شونوپه سلام ګرځولوکې هم دمعيت حکم دی ولی چې تکبيرتحريمه اوسلام دلمانځه دوه غاړې دي لهذايوه به پربله قياسيږي ،داله امام صاحب څخه يوروايت دی دوهم راويت داد ی چې دامام له سلام ګرځولوڅخه وروسته دي سلام وګرځوي ولی چې دتکبيرويلووخت دشروع عبادت وخت دی په کوم کې چې مبادرت مطلوب دی اودسلام دګرځولووخت له عبادت څخه دوتلووخت دی په کوم کې چې دمبادرت ضرورت نشته ،دامام مالک ﷫

په نزدصرف مخامخ سلام کرځول دي مذکوره بالادحضرت ابن مسعود رضی الله عنه حديث پرامام مالک رحمه الله حجت دی.

(۱۲۴)قوله ناويااللقوم والحفظة ,حال من الضمير الذی فی سلم ای حال کونه ناويااللقوم والحفظة ،يعنی په سلام کرځولوکې دي دواړوطرفونومقتديانواومحافظوفرشتوته دسلام کولونيت وکړي ،اوپه خپله امام دي په دواړوجانبوکې مقتديانو او فرشتوته دسلام کولونيت وکړي وجه داده چې تراوسه له خپل رب سره په مناجات کې دمشغول والی په وجه سره ګوياله مخلوق څخه غائب وواوس دمناجات پراختتام ګوياحاضرېږي لهذاموجودينوته دي سلام کوي.

(۱۲۵)وَجَهَرَبِقِرَاءَةِالْفَجْرِ وَأُولَى الْعِشَائَيْنِ وَلَوْقَضَاءً وَالْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ (۱۲۶)وَيُسِرُّ فِي غَيْرِهَا كَمُتَنَفِّلٍ بِالنَّهَارِ (۱۲۷)وَخُيِّرَ الْمُنْفَرِدُ فِيمَا يَجْهَرُ كَمُتَنَفِّلٍ بِاللَّيْلِ (۱۲۸)وَلَوْتَرَكَ السُّورَةَ فِي أُولَيَيِ الْعِشَاءِ قَرَأَهَا فِي الْأُخْرَيَيْنِ مَعَ الْفَاتِحَةِ جَهْرًا وَلَوْتَرَكَ الْفَاتِحَةَ لَا

ترجمه:اوپه زوره (لوړآواز)سره دي وايي قرأة دفجراومغرب اوعشاء په اولنيودورکعتونوکې که څه هم قضاء وي اوپه جمعه کې اوعيدينوکې ،اوسوکه دي وايي له دي څخه په علاوه کې لکه په ورځ کې نفل اداء کونکی ،او اختياردی منفرد لره په جهری لمانځه کې په شپه کې دنفل کونکی په څير،اوکه يې پرېښودی سورة دعشاء په اولنيودوورکعتونوکې نووايي دي په اخيري دوورکعتونوکې له فاتحه سره په زوره اوکه يې فاتحه پرېښوده نونه دي وايي.

تشريح:(۱۲۵)يعنی لمونځ کونکی که امام وي نودفجرپه دواړورکعتونواودماښام اوعشاء په اولنيو دوورکعتونوکې دي په لوړاوازسره قرأة وايي که څه هم ددي لمونځونوقضاء راوړي همدشان دي په جمعه اوعيدينو کې په لوړاوازسره قرأة وايي اوپه باقی رکعتونويعنی دمغرب په دريم اودعشاء په اخيري دوورکعتونوکې دي قرأة اهسته وايي وجه يې داده چې په شروع کې نبی کريم ﷺ په ټولو لمونځونوکې قرأة په لوړاوازسره وايو اومشرکينوچې به دده ﷺ قرأة واوريدلوده ﷺ ته به يې ضرررساوو بياالله تعالی داآيت نازل کړ﴿ولاتجهربصلاتک ولاتخافت بهاوابتغ بين ذالک سبيلا﴾(يعنی مه په ټولو لمونځونوکې جهرکوه اومه په ټولوکې اخفاء کوه بلکه ددي دواړودماېين لاره اختيارکړه)چنانچه نبی کريم ﷺ له دي څخه وروسته په ظهراوعصرکې اخفاء شروع کړه ولی چې په دي دووختونوکې کفاروتکليفونه رسول باقی دمغرب په وخت کې هغوئ په خورک مشغول وواوپه عشاء اوفجرکې به دخوب په وجه سره غافل اوسيدل په دي وجه نبی کريم ﷺ په دي وختونوکې جهرفرمايو.اودجمعه اوعيدينولمونځونه ځکه چې په مدينه منوره کې قائم شول چيرته چې دايذاء کفاروعذرنه ووپه دي وجه يې په دي لمنځونوکې قرأة په لوړاوازسره وايويياله زوال عذرڅخه وروسته هم قرأة په همدي کيفيت برقرارپاتې شو،همداراز په دي وجه هم په جهری لمنځونوکې جهراوپه سری لمنځونوکې اخفاءواجب ده چې دنبی کريم ﷺ له عهدمبارک څخه نيولې بياترنن پوري په جهری لمنځونوکې پرجهراوبه سری لمنځونوکې پراخفاء دټول امت اجماع ده.

ف:که امام په جهری لمانځه کې دسورة فاتحه دومره مقدارسراووايوچې په هغه سره لمونځ جائزووېعنی ديرش حروف يې سراوويل اوس ورپه يادشوچې داخوجهری لمونځ دی نودسراويلې مقداراعاده دي نه کوي ولی چې اعاده نقصان لره جبيره نشته بلکه له دي څخه وراندي دي په جهرسره ووايي اوپه اخيرکې دي

سجده سهو وکړي لمافي الشامية: ان الامام لوخافت ببعض الفاتحة اوكلها اوالمنفردلم اقتدى به رجل اعادها جهرا كمافي الخلاصة، وقيل لم يعدوجهر فيمابقي من بعض الفاتحة اوالسورة كلها، اوبعضها كمافي المنية ......ولعل وجهه ان فيه التحرز عن تكرار الفاتحة في ركعة وتاخير الواجب عن محله وهوموجب لسجود السهو.........وهواشدمن لزوم الجمع بين الجهروالاسرارعلى ان كون ذالك الجمع شنيعاغيرمطردلماذكره في آخرشرح المنية ان الامام لوسهافخافت بالفاتحة في الجهرية ثم تذكر يجهر بالسورة ولايعيد(ردالمحتار: ۱/۳۹۳)

(۱۲۶)اوله مذکوره بالالمنځونوڅخه علاوه په نورولمنځونو(یعنی ظهراوعصر)په ټولو رکعتونوکې پرامام اومنفرد دواړواخفاء کول واجب ده ﴿ لقوله ﷺ صلوة النهارعجماء ﴾(یعنی دورځې په لمنځونوکې داسې قرأة نشته کوم چې واوریدل شي)اودورځې له لمنځونوڅخه دظهراوعصرلمنځونه مراددي ،نوپه ظهراوعصرکې به قرأة سوکه وایي لکه په ورځ کې نفل لمونځ اداء کونکی چې به بالاتفاق قرأة اهسته وایي.

(۱۲۷)یعنی که لمونځ کونکی یواځې لمونځ کوي نوده ته په جهري لمنځونوکې اختیاردی که یې خوبنه وي نوجهردي وکړي اوجهردي دومره وي چې خپل ځان ته یې ورواوروي ولی چې دی دخپل ذات په حق کې امام دی اوکه یې خوبنه وي نواخفاء دي وکړي ولی چې له ده سره نورڅوک نشته چې هغه ته دی قرأة ورواوروي ،لیکن جهرافضل دی ترڅو دمنفرد لمانځه هیئت دجماعت دلمانځه پرهیئت شي ،نومنفردته په جهراواخفاء کې اختیاردی لکه په شپه کې نفل اداء کونکې لره دشپې په فرض لمونځونو په قیاسولوسره دجهراواخفاء دواړو اختیاردی مګرجهرافضل دی ترڅودجماعت پرهیئت شي.

ف:بیاپه مقدارجهرکې اختلاف دی دعلامه هندوانی رحمه الله په نزدجهردادی چې بل یې واوري اواخفاء داده چې په خپله یې واوري اودامام کرخی رحمه الله په نزدجهردادی چې په خپله یې واوري اواخفاء داده چې حروف صحیح وي ،قول اول صحیح دی ولی چې صرف حرکت لسان بلاصوت ته قرأت نه ویل کیږي کمافي الحاشية للشيخ عبدالحي اللكنهوى على هامش شرح الوقاية :قال :وادنى الجهراسماع غيره وادنى المخافة اسماع نفسه هوالصحيح (شرح الوقاية)قوله وهوالصحيح اى لتفسيرالجهر والسربماذكرهوالصحيح لان القرأة وان كانت فعل اللسان لكن فعله الذى هو كلام والكلام بالحروف والحروف كيفية تعرض للصوة فمجردتصحيح الحروف بلاصوت ايماء الى الحروف بالمخارج لاحروف فلاكلام، كذافي فتح القدير (عمدة الرعاية على هامش شرح الوقاية:فصل في القرأة: ۱/۱۳۹)اوشیخ عبدالحکیم ښاولی کوټي دمسئلې داهمیت طرف ته په دي الفاظوسره اشاره کړي ده: وهذه المسئلة من مهمات المسائل وفيهاخطرعظيم خطرعدم صحة صلوة كثيرمن الناس وهم عنهاغافلون ويجب على العلماء اعلام الناس بها، مګرحضرت مولانامفتی رشیداحمدصاحب نورالله تعالی مرقده رأیه داده چې په قول اول په عمل کولوسره اکثره وهم پیداکیږي اواکثرخلګ دهمدي وهم په وجه سره په زوره زوره ویل شروع کړي له کوم څخه چې دنوروپه لمانځه کې خلل پیداکیږي په دي وجه زماپه خیال په دوهم قول عمل کول په کاردي .(احسن الفتاوی ۳، ۷۵)

(۱۲۸)که چادعشاء په اولنیودوورکعتونوکې صرف سورة فاتحه وویله کوم بل سورة یې له هغې سره یوځای نه کړنوهغه دي په اخیري دوورکعتونوکې له الحمدلله سره سورة یوځای کې اوفاتحه اوسورة دواړه دي په لوړاوازسره ولولې ولی چې په یوه رکعت کې جمع بین الجهروالمخافة شنیع ده لهذافاتحه دي

هم په لوړاواز سره ولولې ولې چې فاتحه ويل نفل دی او تغيرنفل اولی ده ،اوكه چاپه اولنيو دوو ركعتونو كې الحمدلله پرينبوده نو ددې قضاء دې په اخيري دوو ركعتونو كې نه كوي ولې چې په اخيري دوو ركعتونو كې چې كله يوځل فاتحه ولولې نوهغه له قضاء شوي فاتحه ځخه كفايت نه كوي ولې چې په اخيري دوو ركعتونو كې يو ځل فاتحه لوستل مسنون ده نو په يو ځل لوستلو سره هم دامسنونه فاتحه اداء كيږي اوس دقضاء شوي لپاره دوهم ځل لولې نو دا جائزنه دی ولې چې تكرار فاتحه مشروع نه ده ،همدارازفاتحه ويل په دې ډول مشروع ده چې پرهغې دبل سورة وينامرتبه وي نو كه په اخيري دوو ركعتونو كې فاتحه قضاء راوړي نو فاتحه په اولنيو دوو ركعتونو كې پر سورة مرتبه كيږي او دا خلاف مشروع ده .

ف:كه په لومړي يادوهم ركعت كې له ركوع ځخه وړاندې يا په ركوع كې دننه فاتحه ورته يادشوه نو بيرته دې راوګرځي اوفاتحه دې ولولې بيا دې دوهم ځل سورة ولولې او په اخيركې دې سجده السهو وكړي كمافي العلائية:ولوتذكرهاقبل الركوع قراهاواعادالسورة،وفي الشامية:(قوله قبل الركوع الظاهرانه ليس بقيدحتى لوتذكرفي الركوع فكذالك ....قوله واعادالسورة لانهاشرعت تابعة للفاتحة(الشاميه مع الدر المختار:۱/۳۹۶)

(۱۲۹)وفرض القراءة آية((۱۳۰)وسنتهافي السفرالفاتحة واي سورةشاء(۱۳۱)وفي الحضرطوال المفصل لوفجرا اوظهرا واوساطه لو عصراً او عشاء وقصاره لو مغربا(۱۳۲)وتطال اولي الفجر(۱۳۳)ولم يتعين شيء من القرآن لصلاة

ترجمه :اوفرض قرأت يو آيت دی ،اوسنت قرأة په سفركې فاتحه ده اوكوم سورة چې يې خوښ شي،او په حضركې طوال مفصل دي كه دسهار لمونځ وي يادماپښين لمونځ وي او اوساط مفصل دي كه دعصريا عشاء لمونځ وي او قصار مفصل دي كه دمغرب لمونځ وي او اوږدوي به صرف دسهار په لمانځه كې اول ركعت ،او متعين نه دی ځه له قرآن مجيد ځخه دلمانځه لپاره .

تشريح :(۱۲۹)يعنی دقرأة هغه ادنی مقدارپه كوم سره چې لمونځ جائزدی دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد هغه دی كوم ته چې قرآن ويل كيدای شي كه ځه هم له يوه آيت ځخه لږ وي ،اودامام ابو حنيفه رحمه الله ځخه دوهم روايت دادی چې كامل يوآيت ادنی مقدارقرأة دی آيت كه كوچنی وي اوكه لوی ،دامام ابو حنيفه رحمه الله دليل دباری تعالی دارشاد﴿فاقرءوا ماتيسر من القرآن﴾ اطلاق دی چې په دې كې دآيت يامافوق الايت هيڅ تفصيل نشته ،ليكن داپه هغه وخت كې چې ايت لږترلږه پردوه يادريو كلماتو مشتمل وي لكه (فقتل كيف قدر)يا(ثم نظر)اوكه پريوه كلمه مشتمل وي نو جائزنه دی لكه (مدهامتان).

ف:دصاحبينو په نزد هغه ادنی مقدارچې په هغه سره لمونځ جائزدی دري كوچني ايتونه دي يا يولوی ايت دی ولې چې له دې ځخه لږ ويونكې ته په عرف كې قاری نه ويل كيږي ،احتياط دصاحبينو پرقول په عمل كولوكې دی او په عباداتو كې احتياط امرحسن دی كمافي فتح القدير:وفي الاسراروماقالاه احتياط فان قوله لم يلد،ثم نظر،لايتعارف قرآناوهوقران حقيقة فمن حيث الحقيقة حرم على الحائض والجنب ومن حيث العرف لم تجز الصلوة به احتياطافيهما(فتح القدير:۱/۲۹۵)مګرمولانامفتی رشيداحمدصاحب رحمه الله دفرض قرأة په ادنی مقدارپه بحث كولوسره دردالمحتارله متعددو مقاماتو ځخه عبارتونه نقل كړي دي ،دكوموچې يې خلاصه ديوسوال په ځواب كې داليكلې ده،ځينو داتلسو حروفو قول كړی دی،مګراحتياط په دې كې دی چې ديرش حروف وي (احسن

الفتاوی :۳/۷۰)اوپه فتاوی محمودیه کې هم له ایت طویله اودریوایات قصیره سره دډیرشوحروفودویلو کفایت کول هم نقل کړی دی.(محمودیه :۷/۳۰)

(۱۳۰)اوپه سفرکې سنت قرأة دادی چې سوره فاتحه اوکوم سورة چې خوښ شي ودي وایي ولی چې نبی کریم ﷺ په سفرکې دسهارپه لمانځه کې (قل اعوذبرب الفلق)او(قل اعوذبرب الناس)ویلې وو. همدارازسفرخوپه لمانځه کې دومره مؤثردی چې دسفرپه وجه سره دلمانځه یوه حصه ساقطیږي نوپه قرأة کې به په طریقه اولی سره تخفیف وي .مګرداتخفیف هغه وخت دی چې مسافرپه عجلت کې وي که نه نو بیادي دفجراوظهرپه لمانځه کې دسوره بروج په شان سورتونه ولولي اوپه عصراوعشاء کې دي له دي څخه مختصراوپه ماښام کې دي ډیرمختصرسورتونه ولولي.

(۱۳۱)قوله وفي الحضرطوال مفصل ای وستهالی الحضرطوال مفصل ،یعنی دحضر(اقامت)په حالت کې دفجراوظهرپه لمانځه کې طوال مفصل ویل سنت دي یعنی له سوره حجرات څخه ترسوره بروج پوري په سورتونوکي دي کوم سورة وایي اوکه دعصریاعشاء لمونځ وي نواوساط مفصل دي وایي یعنی له سوره بروج څخه بیاترسوره بینه پوري په سورتونوکي دي کوم سورت وایي اوکه دماښام لمونځ وي نوقصارمفصل یعني له سوره بینه څخه بیاتراآخیرقرآن پوري په سورتونوکې دي کوم سورت وایي ولی چې حضرت عمر ﷛ حضرت ابوموسی اشعری ﷛ ته خط لیکلی وو چې په فجراوظهرکې طوال مفصل وایه اوپه عصراوعشاء کې اوساط مفصل وایه اوپه مغرب کې قصارمفصل وایه.

(۱۳۲)دشیخینوپه نزددي صرف دفجرپه اولنی رکعت کې له دوهم رکعت څخه طویل سورت وایي ،امام محمد ﷫ په ټولولمونځونوکي اولنی رکعت له دوهم رکعت څخه طویل ویل خوښ کړی دی ولی چې نبی کریم ﷺ په ټولو لمونځونو کې اولنی رکعت له دوهم څخه طویل اداء کاوو. دشیخینو دلیل دادی چې به استحقاق قرأة کې دواړه رکعتونه برابردي لهذاپه مقدارقرأة کې به هم برابر وي البته دفجروخت ځکه چې دخوب وخت دی په دي کې داول رکعت په طویل اداء کولوکي دافائده وي چې ډیرخلک به دجماعت لمونځ ومومندي ،ترکومه چې په حدیث کې داول رکعت دطویل والی ذکردی نوهغه په دثناء اوتعوذپه وجه دی نه دطول قرأة په وجه سره.

ف:علامه شامی ﷫ دشیخینوقول راجح ګڼلی دی حال داچې نورعلماءکرام فرمایي چې دامام محمد ﷫ قول راجح اومفتی به دی کماقال الشیخ عبدالحکیم الشاه ولیکوتی الشهید:والصحیح قوله وهو الاوفق بالسنة وعلیه الفتوی وفي معراج الدرایة وعلیه الفتوی ومثله في المجتبی وفي التاتارخانية وهو الماخوذللفتوی وفي الخلاصة ان احب الخ واختارابن الهمام في الفتح قول محمدوهوالصحیح لان ابن الهمام من الفقهاء المجتهدین الاخبارالاعلم بالسنة ومعانیها(هامش الهدایة :۱/۱۰۸ ،کذافي القول الراجح:۱/۸۶)

(۱۳۳)یعنی په کوم لمانځه کې دکوم سورة په دي ډول متعین ویل چې له دي څخه ماسوادکوم بل سورة ویل جائزنه وي صحیح نه دی لاطلاق قوله تعالی ﴿فاقرءوا ماتیسر من القرآن﴾(له قرآن څخه چې کوم قدراسان وي وایاست یې)اوداطلاق تقاضاداده چې کوم سورة دکوم لمانځه لپاره په فرض ګڼلوسره متعین نه وي .سورة فاتحه که څه هم معینه ده مګرهغه واجب ده فرض نه ده ،نودکوم سورة دکوم لمانځه لپاره متعین کول مکروه

ده ولی چې په دي سره دباقی قرآن ترک لازميږي، همداراز کله چې شارع تيسراکوم شی نه دی متعین کړی نو دبنده له خپل طرف څخه تعین مکروه دی .

ف: که کوم څوک مثلاً دجمعې دسهارپه لمانځه کې سورة السجدة اوهل اتى فرض ونه ګڼي بلکه دتبرک په نيت سره يې وايې چې نبی کريم ﷺ دجمعې په ورځ دسهارپه لمانځه کې ويلې دي نودامکروه نه بلکه مندوب دی په دي شرط چې کله کله کوم بل سورة هم وايې ترڅوچې جهلاء دا ونه فهموي چې له دي دوو څخه علاوه کوم بل سورة جائزنه دی کمافی شرح التنوير:(ويكره التعيين)كالسجدة وهل اتى لفجركل جمعة بل يندب قراءتهما احيانا.(ردالمحتار:۱/۳۰۲)

(۱۳۴)وَلَا يَقْرَأُ الْمُؤْتَمُّ وَيَنْصِتُ وَإِنْ قَرَأَ آيَةَ التَّرْغِيبِ وَالتَّرْهِيبِ(۱۳۵)أَوْ خَطَبَ أَوْ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ(۱۳۶)وَالنَّائِي كَالْقَرِيبِ

ترجمه: اوقرأة دي نه کوي مقتدی بلکه اوري دي اوخاموش دي وي که څه هم امام ايت ترغيب ياترهيب ولولي ،ياخطبه وايې ياپرنبی کريم ﷺ درود وايې ،اوليري ناست دنژدي په شان دی .

تشريح :(**۱۳۴**)يعنی داحنافوپه نزدبه مقتدی دامام شاته قرأة نه وايې خواه که سرّی لمونځ وي اوکه جهری بلکه دامام قرأة دي اوري اوخاموش دي وي که څه هم امام دترغيب ايتونه (هغه آيتونه په کوموکې چې دجنت بيان دی)يادترهيب ايتونه (هغه ايتونه په کوموکې چې دجهنم بيان دی)ووايې لقوله تعالى ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا﴾(يعنی کله قرآن ويل کيږي نوتاسې غوږورته ونيسئ اوپټه خوله اوسئ) داکثراهل تفسيررأيه داده چې داخطاب مقتدی ته دی لهذامقتدی به په امام پسې قرأة نه کوي .

ف: دامام محمد رحمه الله طرف ته چې کوم داقول منسوب دی چې په سرّی لمانځه کې فاتحه لوستل مستحسن ده دا ضعيف دی کمافی الدرالمختار:والمؤتم لايقرأمطلقاولاالفاتحة فی السرية اتفاقا,ومانسب لمحمدضعيف كمابسطه الكمال,قال ابن عابدين:(قوله كمابسطه الكمال)حاصله ان محمداقال فی كتابه الآثار لانرى القراة خلف الامام فی شئ من الصلوات يجهر فيه اويسر ودعوى الاحتياط ممنوعة بل الاحتياط ترک القراة لانه العمل باقوى الدليلين وقدروى الفسادبالقراءة عن عدة من الصحابة فالمراد بهما المنع .(الدرالمختارمع الشامية:۱/۳۰۲)

ف: دامام شافعی رحمه الله په نزدپرمقتدی باندي دامام ترشاسورة فاتحه ويل واجب دی ﴿ لقوله ﷺ لاصلوة الابفاتحة الكتاب ﴾ (له سورة فاتحه څخه بغيرلمونځ نه کيږي)،زموږدليل مذکوره بالاآيت شريف دی اودنبی کريم ﷺ ارشاددی ﴿من كان له امام فقراءة الامام له قراءة﴾ (يعنی کوم لمونځ کونکی لره چې امام وي نودامام قرأة دده قرأة دی)اوله اتيا(۸۰)کبارصحابه کرامو ﷺ څخه مروی ده چې هغوئ له قرأة خلف الامام څخه منع فرمايله .لهذادقرآن داستماع فرضيت په نص ثابته شوه اوقرأة کول ،دجنت سوال کول ،ياله جهنم څخه پناه غوښتل دي استماع لره مخل دی .

(**۱۳۵**)قوله اوخطب ،پردي عبارت داسوال کيدای شي چې ظاهراخطب معطوف دی پرقرأباندي که واقعی خطب پرقرأمعطوف وي نوپه دي وخت کې دعبارت معنی داده چې که څه هم امام خطبه وايې يا درودوايې نوهم به مقتدی خاموش اوسي حال داچې امام خودلمانځه په منځ کې خطبه نه وايې ؟
جواب: خطب واقعتاپرقرأمعطوف دی مګردخطب فاعل امام نه دی بلکه خطيب دی ای خطب الخطيب اوصلى على

النبی ﷺ ،نو داله قبیله دعطف الجمله علی الجمله دی یعني که خطیب په خطبه کې دترغیب یاترهیب آیت ولوستی یایې پرنبی کریم ﷺ درودشریف ووایونو هم دخاموش اوسیدلوحکم دی ولی چې دجنت سوال وغیره استماع لره مخل دی.

(۱۳۶)له امام اوله خطیب څخه لیري اونژدي کسان دواړه په حکم کې برابردي یعني لکه څرنګه چې قریب لره دقرأة دنه کولواودخاموش اوسیدلوحکم دی همداحکم بعیدلره هم دی ولی چې بعیدکس هم په قرأة اوریدلواوخاموش پاتې کیدلوماموردی نودی که له قرأة اوریدلوڅخه عاجزدی نوله خاموش پاتې کیدلوڅخه خوعاجزنه دی.

اللطیفة :سرق اعرابی غطاء السرج ثم دخل المسجد یصلی فقرأ الامام (هل أتاک حدیث الغاشیة) فقال یافقیه لاتدخل فی الفضول فلما قرأ (وجوه یومئذ خاشعة) قال خذوا غاشیتکم ولا یخشع وجهی لابارک الله لکم فیها ثم رماها من یده وخرج (المستطرف)

باب الإمامة

داباب دامامة په بیان کې دی

مصنف رحمه الله په ماقبل کې دامام اومقتدی څه صفات ذکرکړل په همدي مناسبت سره اوس دلته د مشروعیت امامت صفت بیانوي چې پرکوم صفت داله مشروعاتوڅخه دی بیان یې دابیان کړی دی چې ترټولودیرمستحق دامامت څوک دی.

ف:امامت پردوه قسمه دی ،کبری ،صغری،امامت کبری ،استحقاق تصرف عام علی الانام (یعنی پرمخلوق دعام تصرف مستحق والی)ته ویل کیږي ،داسې عام متصرف ته دفقه په اصطلاح کې امیر، یا امیرالمؤمنین،خلیفة المسلمین یاامام اعظم ویل کیږي.امامت کبری دشریعت له انتهائي اهمو واجبانو څخه دی همدا وجه ده چې صحابه کرامو ﷺ دنبی کریم ﷺ له وفات څخه وروسته له دفن څخه وړاندې دنبی کریم ﷺ نائب مقررکړ،دداسې امیراعظم لپاره شرط دادی چې هغه به مسلمان،ازاد، عاقل، بالغ،نارینه،اوپرعمو عمې تصرف قادروي.امامت صغری،ربط صلوة المقتدی بصلوة الامام (دمقتدی خپل لمانځه لره دامام له لمانځه سره تړلو)ته ویل کیږي .دامامت صغری لپاره هم څوشرطونه دي هغه داچې امام به بالغ وي ،عاقل وي ،نارینه به وي ،بقدرضرورت به یې دقرآن سورتونه یادوي ،اوروغ به وي له اوداسه سره منافي عذربه نه لري.

(۱۳۷)الجماعة سنة مؤكدة(۱۳۸)والأعلم أحق بالإمامة(۱۳۹)ثم الأقرأ(۱۴۰)ثم الأورع(۱۴۱)ثم الأسن(۱۴۲)وكره إمامة العبد والأعرابي(۱۴۳)والفاسق والمبتدع والأعمى وولد الزنا(۱۴۴)وتطويل الصلاة(۱۴۵)وجماعة النساء(۱۴۶)فإن فعلن يقف الإمام وسطهن كالعراة(۱۴۷)ويقف الواحد عن يمينه(۱۴۸)والاثنان خلفه

ترجمه :جماعت سنت مؤکده ده ،ترټولودیرعالم حقدارد امامت دی ،بیاترټولودیرقاري ،بیاترټولودیر پرهیزګار، بیا ترټولو مشر، اومکروه ده دغلام امامت اودکوچی اودفاسق اودمبتدع اودړانده اودولد زنا،او (مکروه ده)لمونځ اوږدول،اودښځو جماعت ،بیا که هغوئ جماعت کاوونودرېږي دي امام ذدوئ په منځ کې دلڅو په شان ،اودرېږي دي یومقتدی دامام ښی اړخ ته ،اودوه دامام شاته.

تشريح :جماعت په لغت كښ ټولي ته ويل كيږي اوپه اصطلاح دشريعت كښ دمسلمانان كس له بل سره لمونځ كولوته ويل كيږي كه څه هم هغه عاقل هلك وي .

(۱۳۷)په جماعت سره لمونځ (مرادفرض لمونځ دی ياهغه كوم چې دفرضوپه حكم كښ دی لكه تروايح وغيره)اداء كول سنت موكده دی ولي چې دنبي كريم ﷺ ارشاددی ﴿الجماعة من سنن الهدىٰ لايتخلف عنها الامنافق﴾(جماعت له سنن هدى څخه دی له دې څخه شاته نه پاتي كيږي مگرمنافق).

ف:دامام احمداوداؤدظاهرى په نزدجماعت فرض عين دی﴿لقوله ﷺ لا صلاة لجار المسجد إلا في المسجد ﴾ (دمسجد دهمسايه ګانولمونځ نه كيږي مگرپه مسجدكښ)،احناف ځواب وركوي چې په حديث شريف كښ دنفس صلوة نفي دی بلكه دصلوة كامله نفي ده ولي چې نبي كريم ﷺ فرمايي په جماعت سره لمونځ اداء كول له تنهاء لمانځه اداء كولوڅخه پنځه ويشت درجې افضل دی .له دې روايت څخه دتنهاء لمانځه داداء كولوجوازثابتيږي نوكه جماعت فرض عين واى نودتنهاء لمونځ كونكي لمونځ به جائزنه واى.

ف:سنت پردوه قسمه دي ،سنت هُدى ،سنت زائده ،سنت هدى هغه دی چې پرهغه نبي كريم ﷺ دعبادت په ډول له كله كله ترک سره مواظبت فرمايلى وي اوسنت زائده هغه دی كوم چې نبي كريم ﷺ بطريق عادت كړى وي لكه دنبي كريم ﷺ عادات په قيام ،قعوداولباس وغيره كښ ،اول قسم پرېښودل مكروه اضلالت دی اودوهم قسم په پرېښودلوكښ څه حرج نشته .

(۱۳۸)يعني دامامت ترټولوډيرمستحق هغه كس دی كوم چې اعلم بالسنة وي يعني دفقه اوشريعت علم لرونكي وي په دې شرط چې په دومره قرأة قدرت لري چې په هغه سره لمونځ جائزوي . دادطرفينومسلک دی اودامام ابويوسف رحمه الله په نزددامامت ډيرمستحق هغه دی كوم چې ترټولوښه قاري وي ولي چې قرأة دلمانځه يوداسې ركن دی چې له هغه څخه بغيرچاره نشته حال داچې دعلم ضرورت دكوم عارض پروخت وي هروخت نه وي .دطرفينودليل دادی چې احتياج الى القرأة صرف ديوه ركن لپاره وي اواحتياج الى العلم دټولواركانولپاره دی .همدارنبي كريم ﷺ پريوه موقع وفرمايل ﴿مروا أبابكر يصلي بالناس﴾(چې ابوبكر ﷺ ته امروكړئ چې هغه خلكوته لمونځ وركړي)حال داچې په صحابه كرامو ﷺ كښ له ابوبكر ﷺ څخه لوى قاريان موجودوولكه ابى بن كعب ﷺ بياهم دلمانځه دوركولوحكم حضرت ابوبكر ﷺ ته وكړل شونوداددليل دی چې اعلم له اقرأڅخه مقدم دی .

ف:دطرفينوقول راجح دی كمافي شرح التنوير:(والاحق بالامامة)تقديمابل نصبامجمع الانهر(الاعلم باحكام الصلوة)فقط صحةوفسادابشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدرفرض وقيل واجب وقيل سنة ،قال ابن عابدين (قوله باحكام الصلوة فقط)اى وان كان غيرمتبحرفي بقية العلوم وهواولى من المتبحر(ردالمحتار:۱/ ۴۲۱،كذافي الهندية:۱/ ۸۳)

(۱۳۹)كه باجماعت لمونځ كونكي ټول په علم كښ سره برابروي نوبياكوم چې ښه قاري وي هغه اولي دی﴿لقوله ﷺ واليؤم القوم اقراهم لكتاب الله فان كانوسواء فاعلمهم بالسنة﴾ (يعني دقوم امامت دې هغه وكړي كوم چې ترټولوښه قاري وي كه په قرأة كښ ټول سره برابروي نوبيادې هغه لمونځ وركړي كوم چې ترټولوډيرعالم بالسنة وي).سوال :له دې روايت څخه خوداملعوميږي چې قاري ،له عالم څخه مقدم دی ؟ځواب :اصلاپه

هغه زمانه کې چې به څوک ډيرقاري وو هغه به عالم بالسنة هم وو په دي وجه په حديث کې اقرأ له عالم څخه مقدم کړل شو حال دا چې زمونږ په زمانه کې داسې نه دی په دي وجه به زمانه کې اعلم له اقرأ څخه مقدم وي.

(۱۴۰) اوکه په قرأة کې ټول سره برابروي نوبيا ترټولو ډيرپرهيزګاراولی دی ولی چې په حديث شريف کې له اعلم او اقرأ څخه وروسته هجرة کونکی ډيرمستحق ګرځول شوی دی او س علماؤمهاجرعن المعاصی (يعنی متقی) دمهاجرعن الوطن قائم مقام ګرځولی دی ،همدارازنبی کريم ﷺ فرمايلي ﴿ان سركم ان يتقبل الله صلوتكم فليؤكم خياركم فانهم وفدكم فيما بينكم وبين ربكم﴾ (که ستاسې داخبره خوښوئ چې الله تعالی ستاسې لمونځ قبول کړي نوپه تاسې کې بهترامام جوړکړی په دي وجه چې هغه ستاسې او ستاسې دپروردګارترمنځ وکيل اونمائنده دي).

(۱۴۱) که په تقوی اوپرهيزګاري کې ټول سره برابروي نوبيا کوم چې په عمرکې ترټولولوی دی هغه دامامت ډيرحقداردی ولی چې نبی کريم ﷺ دابی مليکه دووزامنوته وفرمايل ﴿وليؤمكما اكبركما سنا﴾ (يعنی په تاسې دواړوکې دلوی امامت وکړي).

ف: که کوم کس دکوم قوم امامت کوي او حال دا چې قوم له ده څخه خوښحاله نه دی او فساد هم په امام کې وي نوامام لره ددوئ امامت کول مکروه تحريمي دی ﴿لقوله ﷺ لايقبل الله صلوة من تقدم قوما وهم له كارهون﴾ (الله تعالی دداسې کس لمونځ نه قبلوي کوم چې دقوم امامت کوي حال دا چې قوم دده پرامامت راضی نه وي). البته دا بايد ياد وساتل شي چې ددينداروا واکثروخلګوکراهت اوناراضی معتبره ده ديوه يادونيادارانوناراضی اوکراهت معتبرنه دی ،بلکه که په امام کې دننه کومه شرعی خرابي نه وي .خلګ دغلطواغراضوپه وجه سره له دي څخه ناخوښه وي اودی له امامت څخه عليحده کول غواړي نوهغه خلګ ګناهګاراوسخت مجرم دي کمالی بذل المجهود: وقدقيدذلک (ای الكراهة) جماعة من اهل العلم بالكراهة الدينية بسبب شرعی ،فأماالكراهة لغيرالدين فلاعبرة بها،وقيدوه ايضاًبان يكون الكارهون اكثرالمأمومين، ولااعتبار بكراهة الواحدولاالاثنين والثلاثة اذاكان المؤتمون جمعاكثيرا (بذل المجهودشرح سنن ابی داؤد،باب الرجل يؤم القوم وهم له كارهون: ۱/۳۳۱)

(۱۴۲) يعنی دغلام امامت مکروه تنزيهی دی ولی چې دعدم فرصت په وجه پرده دجهل غلبه وي .همداشان دکوچی امامت مکروه دی ولی چې په دوئ کې جهل غالب وي لقوله تعالی ﴿واجدران لايعلمواحدودماانزل الله علی رسوله﴾ (اودوئ بايدهمداسې وي چې دوئ ته دهغواحکاموعلم نه وي کوم چې الله تعالی پرخپل رسول ﷺ نازل فرمايلي دي).

لطيفه: حکی ان اعرابيااقتدی بامام فی صلوة المغرب وقرأ لامام (الاعراب اشدكفراونفاقاالاية) فلماسمع الاعرابی انصرف واخذعصاوضرب به علی کتف الامام ثم اقتدی ثانياوقرا الامام (ومن الاعراب من يؤمن بالله واليوم الاخرالاية) فقال الاعرابی وهوفی الصلوة قدنفعک العصا.

لطيفه: صلی اعرابی خلف الامام فقرا الامام (الم نهلک الاولين) وکان فی الصف الاول فتاخرالی الصف الآخرفقرأ (ثم نتبعهم الآخرين) فتاخرفقرا (كذالک نفعل بالمجرمين) وکان اسم البدوی مجرمافترک الصلوة وخرج هارباوهويقول والله مالمطلوب غيری ،فوجده بعض الاعراب فقال لعمالک يامجرم؟فقال ان الامام اهلک الاولين والآخرين واراد ان يهلکنی فی الجملة والله لارأيته بعداليوم (المستطرف)

(۱۴۳)قوله والفاسق والمبتدع اى وكره امامة الفاسق والاعرابى ،يعني دفاسق امامت مكروه دى ولې چې هغه ددين په معامله كې متهم دى او خلک له ده څخه نفرت كوي ،دمبتدع امامت مكروه دى يعني هغه كس كوم چې په دين كې داسې نوي خبري ايجادكړي چې دهغوئ كوم اصل په شريعت كې موجودنه وي يا په نويوپيداشويو عمل كوي دداسې كس په نسبت دمتبع شريعت كس په اقتداء كې دلمانځه په اداء كولوكې ډيرثواب دى ،دابايدپه يادوساتل شي چې له بدعتي څخه مراد داسې بدعتي دى چې دهغه بدعت ترکفره نه وي رسيدلى اوكه دده بدعت تركفره رسيدلى وي نو دهغه اقتداء جائزه نه ده .درانده امامت مكروه دى ولې چې هغه خپل ځان له نجاست څخه نه شي ساتلى ليكن كه څوک دده په شان عالم فاضل نه وي نوبيادهغه امامت مكروه نه دى ولې چې نبى كريم ﷺ حضرت عبدالله ابن مكتوم په مدينه منوره كې خپل خليفه جوړكړى وو.اودولدزناامامت مكروه دى ولې چې دده پلارنه وي لهذاپرده هم دجهل غلبه وي ،اودټولو مشتركه وجه داده چې ددوئ له امامت څخه خلک نفرت كوي او دجماعت لمونځ پرېږدي په دې وجه مكروه دده.

ف:هوكه داكسان په خپله ورانده شول نوله يواځي لمونځ اداء كولوڅخه په دوئ پسې لمونځ اداء كول بهتردى ﴿لقوله ﷺ صلواخلف كل بروفاجر﴾ (يعني په هرنيک اوبدكس پسې لمونځ اداء كوئ)البته ددوئ دافعل مكروه دى﴿لقوله ﷺ من ام قوماوهم له كارهون فلاصلوة له﴾ (الله تعالى دداسې كس لمونځ نه قبلوي كوم چې دقوم امامت كوي په داسې حال كې چې قوم دهغه په امامت راضى نه وي).

ف:اعمى كه دطهارت په مسائلوكې محتاط وي او افضل وي نودده امامت مكروه نه دى ،فاسق اومبتدع كه عالم اوقارى وي نودده امامت بياهم مكروه دى،دعبد،اعرابى اوولدزنامتعلق دوه قوله دي ،په يوه قول كې كراهت ختميږي ،اوپه دوهم قول باقى پاتيږي ،اول قول قوى معلوميږي ولې چې دكراهت علت غلبه جهل اوتنفيرجماعت دى كوم چې دعلم اوتقوى په وجه سره ختميږي .(فتاوى محموديه:۲۵۲/۶)

ف:كه كوم كس ترډيره زمانه پورې په مسجدكې امام پاتې شوى وي اوس هغه اقراركوي چې زه ددې مسجدد امامت په زمانه كې كافروم نوكه دده پركفردده له اقرارڅخه ماسوابله كومه قرينه نه وي نودى به دامامت له زمانې څخه مرتدنه ګرځول كيږي بلكه ده چې په كوم وخت دكفراقراركوي له هغه وخت څخه مرتدګرځي لهذاپه تيره شوي زمانه كې دده په اقتداء كې اداء شوي لمونځونه صحيح دي كمافى الشامية:(قوله لان الصلوة دليل الاسلام)اى دليل على انه كان مسلماوانه كذب بقوله انه صلى بهم وهو كافر وكان ذالک الكلام منه ردة فيجبر على الاسلام (ردالمحتار:۵۵۴/۱)

(۱۴۴)قوله وتطويل الصلوة اى وكره تطويل الصلوة ،يعني دامام خلكوته اوږدلمونځ وركول مكروه دى ﴿لقوله ﷺ اذاصلى احدكم بالناس فليخفف فان فيهم الضعيف والسقيم والكبيرواذاصلى لنفسه فليطول ماشاء﴾ (يعني په تاسې كې چې څوک خلكوته لمونځ وركوي نوسپک لمونځ دي وركوي ولې چې په دوئ كې كمزوره اوناروغه اوسپين ږيري وي اوكه چې خپل لمونځ اداء كوي نوڅومره چې يې خوښه وي طويل دي كړي)البته صلوة كسوف له مذكوره بالاحكم له كراهت څخه مستثنى دى ولې چې په صلوة كسوف كې اوږدقرأة مطلوب دى حتى تانجلى

الشمس ،مگرله اوږده لمانځه څخه مراددادی چې قرأة له مقدارمسنون څخه زيات وويل شي په مسنون مقدار سره دقرأة ويلوپه صورت کې لمانځه ته طويل نه ويل کيږي .

ف:که امام راتلونکی کس وپيژاندېيايې دده لپاره قرأة يارکوع اوږده کړه نودامکروه تحريمي دی اوکه يې راتلونکی کس ونه پيژاند نوبياکراهت نشته قال شارح التنوير: وكره تحريما اطالة ركوع اوقرأة لادراک الجائی ای ان عرفه والافلابأس به ولو اراد التقرب الی الله تعالی لم يكره اتفاقا (ردالمحتار: ۱/۳۶۲)

(۱۴۵)قوله وجماعة النساء ای وكره التحريما جماعة النساء ،يعنی ښځولره يواځې په جماعت سره لمونځ اداء کول مکروه ده خواه که فرض لمونځ وي اوکه نفل﴿لقوله ﷺ صَلاةُ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلاتِهَا فِي حُجْرَتِهَا وَصَلاتُهَا فِي مَخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلاتِهَا فِي بَيْتِهَا ﴾ (يعنی نبی کريم ﷺ وفرمايل چې دښځې لمونځ بهتردی په خپله کوټه کې ترلمونځ ددي په عامه کوټه کې اولمونځ ددي بهتردی دکوټې په خوندی ځای کې ترلمونځ ددي په صحن دکوټې کې)،همدارازدښځوجماعت دمکروه له ارتکاب څخه خالي نه وي په دي وجه چې ددوئ امام به له اقتداء کونکيوښځو څخه ياوړاندي دريږي يابه ددوئ په منځ کې دريږي په اولنی صورت کې کشف عورت ډيردی اوپه دوهم صورت کې دامام دځيل ځای پريښودل لازميږي په دي وجه داهم مکروه دی .اوجماعت سنت دی اوقاعده ده چې له ارتکاب مکروه څخه ترک سنت اولی دی.

(۱۴۶)اوکه دوئ داسې وکړل (يعنی که ښځوپه جماعت سره لمونځ اداکوی)نودلځوخلگوپه شان به ددوئ امام هم ددوئ په منځ کې دريږي ولی چې دحضرت عائشه رضي الله عنها عمل همداشان منقول دی شايدچې هغې په ابتداء اسلام کې کړی وي، همدرازپه دي کې سترهم زيات دی .

(۱۴۷)يعنی که له امام سره يومقتدی وي نوهغه دي خپل ښی اړخ ته ودروي﴿لحديث ابن عباس رضي الله عنهما قال قام ﷺ الی شن معلق فتوضأ والمسح فقمت وتوضات ووقفت علی يساره واخذباذنی وادارنی خلفه حتی اقامنی عن يمينه﴾(يعنی نبی کريم ﷺ له يو راځوړندمشکيزي څخه اوبه راواخيستې اولمونځ يې شروع کړنوزه هم راپاڅيدم اواودس مې وکړبيازه ده نبی کريم ﷺ په کيڼ اړخ کې ودريدم نونبی کريم ﷺ زماغوږونيوبيازه يې دشاله طرفه راوګرځولم ترڅوچې زه يې خپل ښی اړخ ته ودرولم).

ف:اوکه يومقتدی وواودامام کيڼ اړخ ياشاته ودريدونوده لمونځ کيږي ليکن گناهگاردی ،اومقتدی دي په ښی اړخ کې داسې ودريږي چې دده پښې دامام له پښوڅخه وړاندي نه وي ولی چې اعتباردپښو اېښودلوځای ته دی نوکه کوم مقتدی اوږدقامت والاوي دکوم سجده چې له امام څخه وړاندي وي نودامضره نه ده اوکه دمقتدی پښې له امام څخه وړاندي وي نودمقتدی لمونځ نه صحيح کيږي كمافی شرح التنوير: ولاعبرة بالرأس بل بالقدم ،قال ابن عابدين: (قوله بل بالقدم) فلوحاذاه بالقدم ووقع سجوده مقدما عليه لكون المقتدی اطول من امامه لايضر(ردالمحتار: ۱/۳۱۹)

(۱۴۸)قوله والاثنان خلفه ای ويقف الاثنان خلف الامام ،يعنی که له امام سره دوه مقتديان وي نودطرفينو په نزدبه امام له دوئ دواړوڅخه وړاندي دريږي ولی چې نبی کريم ﷺ حضرت انس رضي الله عنه اويتيم رضي الله عنه ته لمونځ ورکړنونبی کريم ﷺ له دوئ دواړوڅخه وړاندي ودريدی .امام ابويوسف رحمه الله فرمايې چې که مقتديان دوه وونوامام دي ددوئ په منځ کې دريږي ولی چې حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه حضرت

علقمه اوحضرت اسودرضی الله تعالی عنهماته لمونځ ورکړنوددوئ په منځ کې ودریدو. مګرامام ابویوسف رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه داعمل په تنګی مقام باندې محمول دی.

ف: که په پیل کې له امام سره یومقتدی وي وروسته څه نورخلک هم راغلل نوهغوئ دې دامام شاته صف جوړکړي اواولنی مقتدی دې هم شاته ولاړشي اوله نورومقتدیانوسره دې په صف کې شامل شي. اوکه اولنی مقتدی په خپله نه ولاړی نووروسته راتلونکی کس دې دی په ارام سره شاته کش کړي په دې شرط چې دفساداوجنګ خطره نه وي اوکه وروسته راتلونکی کس راغی اودامام کیڼ اړخ ته ودریدو، نوامام دې دواړوته دشاته کیدلواشاره وکړي. داټول تفصیل هغه وخت دی چې امام په قعده اخیره کې نه وي که امام په اخیره قعده کې وي نووروسته راتلونکی کس به دامام کیڼ اړخ ته دریږي، نه به اولنی مقتدی شاته ځي اونه به امام وړاندې ځي کمافی الشامیة: والذی یظهرانه ینبغی للمقتدی التأخراذاجاء الثالث فان تأخر (فبها) والاجذبه الثالث ان لم یخش افسادصلوته فان اقتدی عن یسارالامام یشیر الیهمابالتأخروهواولی من تقدمه لانه متبوع ولان الاصطفاف خلف الامام من فعل المقتدین لاالامام فالاولی ثباته فی مکانه وتأخرالمقتدی ......والظاهرایضاان هذااذالم یکن فی القعدة الاخیرة والااقتدی الثالث عن یسارالامام ولاتقدم ولاتأخر (ردالمحتار: ۱/۴۲۰)

(۱۴۹) وَيَصُفُّ الرِّجَالُ ثُمَّ الصِّبْيَانُ ثُمَّ الْخَنَاثَى ثُمَّ النِّسَاءُ

ترجمه: اوصف دې جوړکړي دنارینه وبیادهلکانو بیاخنثی وبیادښځو.

تشریح: (۱۴۹) یعنی دامام شاته دې ترټولووړاندې نارینه ودریږي بیادې ددوئ شاته هلکان ودریږي بیادې احتیاطاله ښځوڅخه وړاندې خنثی ودریږي بیادې په دوئ پسې ښځې ودریږي ﴿لقوله ﷺ لیلینی منکم اُولوالاَحْلام﴾ (یعنی قریب دې وي ماته له تاسې څخه بالغ کسان). اوپرښځودهلکانو تقدیم دنبی کریم ﷺ له فعل څخه ثابت دی ولی چې په ماقبل کې په ذکرشوی دحضرت انس رضی الله عنه په روایت کې داهم شته چې نبی کریم ﷺ یوه سپین ساری ښځه دیتیم نومی نابالغ هلک شاته درولې وه، همدرازحضرت ابومالک اشعری رضی الله عنه خپل قوم ته وویل چې تاسې خپله هم جمع شئ اوخپلې ښځې اوهلکان هم راجمع کړئ ترڅوزه تاسې ته دنبی کریم ﷺ لمونځ دروښیم نوهغوئ خپله هم جمع شول اوخپل زامن اوښځې یې هم راجمع کړل بیایې اودس وکړاودوئ ته یې وروښودل چې نبی کریم ﷺ څرنګه اودس کاوو، بیاابومالک وړاندې شوبیایې دنارینه وصف جوړکړاوهلکان یې دهغوئ شاته ودرول اودښځوصف یې له هلکانو څخه وروسته جوړکړ، اوفقهاؤدخنثی دهلکانواوښځوپه منځ کې ددرولوحکم کړی دی ولی چې خنثی ذوجهتین دی.

ف: له خنثی څخه مراددلته خنثی مشکل مراددی یعنی په کوم کې چې مردانه بزنانه علامت برابروي اوکه په خنثی (نرښځی) کې مردانه علامې ډیرې وي نوهغه په صف اول کې دریدلی شي، اوکه زنانه علامې ډیرې وي نوهغه به دښځوپه صف کې دریږي، هلک که یواځې وي نوهغه دې دنارینه وپه صف کې ودرول شي کمافی البحر: ویقتضی ان الصبی الواحدلایکون منفرداعن صف الرجال بل یدخل فی صفهم (البحرالرائق: ۱/۳۵۳)

ف: نن صباهلکان بایدپه منتشرډول سره دنارینه وپه صفوکې ودرول شي ولی مشاهده داده چې هلکان چې کله دوه یاله دووڅخه زائدچیرته جمع شي نودشوراوشغف په وجه سره خپل لمونځونه باطلوي اودیروخت

ددوئ دفسادپه وجه سره دنارينه ولمانځه ته هم نقصان رسيږي قال الرحمتي :وبمايتعين في زماننا ادخال الصبيان في صفوف الرجال لان المعهود منهم اذا اجتمع صبيان فاكثر تبطل صلوة بعضهم ببعض وربماتعدى ضررهم الى افساد صلوة الرجال سندی (التحرير المختار على ردالمحتار: ۱/۷۳)

(۱۵۰)وَإِنْ حَاذَتْهُ مُشْتَهَاةٌ فِي صَلاةٍ مُطْلَقَةٍ مُشْتَرَكَةٍ تَحْرِيمَةً وَأَدَاءً فِي مَكَانٍ مُتَّحِدٍ بِلا حَائِلٍ فَسَدَتْ صَلاتُهُ إِنْ نَوَى إِمَامَتَهَا (۱۵۱) وَلا يَحْضُرْنَ الْجَمَاعَاتِ

ترجمه :اوكه له نارينه سره برابره شوه مشتهاته ښځه په مطلق لمانځه كې كوم چې مشترك وي دتحريمې اواداءله رويه په يوه مكان كې بغيرله كومې پردې نوفاسديږي دنارينه لمونځ كه نيت كړی وو امام دښځې دامامت،اونه دي حاضريږي ښځې جماعاتوته.

تشريح :(۱۵۰)قوله وان حاذته اى ان حاذت المرأة المصلى ،يعنى كه كومه ښځه له كوم نارينه سره محاذي(يعنى له نارينه سره څنګ پرڅنګ ودريده)شوه په دي شرط چې مشتهاة وي يعنى دجماع قابله وي اولمونځ هم كامل وي يعنى ذات الركوع والسجودوي دجنازي لمونځ نه وي اوددواړولمونځ هم مشترك وي يعنى دواړوخپلې تحريمې دامام پرتحريمه بناء كړي وي اوددواړومكان هم يووي په منځ كې څه حائل(پرده)نه وي نوپه داسې صورت كې خلاف القياس دنارينه لمونځ فاسديږي دښځې نه فاسديږي ولې چې دحضرت ابن مسعود ﷺ حديث دی ﴿ان رسول الله قال أخِّرُوهُنَّ من حيث أخَّرَهُنَّ اللهُ﴾(ښځې مؤخري كړئ چيرته چې الله ﷻ دوئ موخري كړي وي)په دي حديث كې نارينه وته حكم وركړل شوی دی چې هغوئ دي ښځې په لمانځه كې شاته كوي نوكله چې ښځه له ده سره محاذی شوه نوګواكی نارينه خپل فرض مقام ترك كړولی چې په داسې لمانځه چې په هغه كې دواړه سره شريك وي دښځې مؤخركول پرنارينه فرض دی اوچاچې فرض پريښودی دهغه لمونځ فاسديږي نه دهغه بل په دي وجه زموږپه نزددنارينه لمونځ فاسديږي دښځې لمونځ نه فاسديږي.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزددنرلمونځ نه فاسديږي دقياس تقاضاهم همداده چې دنرلمونځ هم فاسدنه شي .امام شافعي رحمه الله دنرلمونځ دښځې پرلمانځه قياس كړی دی ،ليكن احنافوا استحسانا دمذكوره بالاحديث په وجه سره قياس ترك كړی دی.

ف:كه نرښځې ته دليري كيدلواشاره وكړه مګرهغه ليري نه شوه ياامام دهغې دامامت نيت ونه كړنوبيادښځې لمونځ فاسديږي نه دنرلمونځ ،همداشان كه ښځه په محاذات كې ودريده مګرديوه ركن په مقدارېې دوام ونه كړبلكه زرليري شوه نوهم دنرلمونځ نه فاسديږي كمافی الدرالمختار:(والا)ينويها(فسدت صلوتها)كمالواشاراليهابالتاخيرفلم تتاخرلتركهاالفرض المقام فتح وشرطواكونهاعاقلة وكونهمافی مكان واحدفی ركن كامل (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: ۱/۴۲۶)

ف:همداشان كه ددواړوپه منځ كې كوم حائل وي په دي شرط چې هغه په اوږدوالی كې يوذراع اوپه پنډوالی كې دګوتې په اندازه وي نوهم دنرلمونځ نه فاسديږي ،همداشان كه ددواړوپه منځ كې دومره فاصله وي چې په هغه كې بل لمونځ كونكی دريدای شي نوهم دنرلمونځ نه فاسديږي كمافی شرح التنوير:(ولاحائل بينهما)اقله قدرذراع فی غلظ اصبع اوفرجةتسع رجلا(ردالمحتار: ۱/۴۲۳)

ف:په انفرادي لمانځه کې که ښځه له نرسره متصله ودريدله نولمونځ کيږي مګرمتصل دريدل مکروه دي کمافي الدر المختار: فمحاذاة المصلية لمصل ليس في صلوتهامكروهة لامفسد(ردالمحتار: ١/٥٣٧)

(١٥١)يعني دځوانوښځوپه جماعتونوکې حاضريدل مکروه تحريمي ده ولې چې ددوئ په حاضري کې دفتنې انديښنه ده،البته دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدبوډۍ ښځې دفجرمغرب اوعشاء دجماعت لپاره وتلی شي اودصاحبينوپه نزدبوډۍ ښځې هروخت وتلی شي ،دصاحبينودليل دادی چې ددوئ طرف ته دميلان طبع دکم والي په وجه سره ددوئ په خروج کې فتنه نشته .دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادی چې شدة شهوة دجماع باعث دی ولكل ساقطة لاقطة لهذادبوډۍ ښځوپه وتلوکې هم فتنه واقع کيږي البته دفجراوعشاء پروخت فاسق خلګ ويده کيږي اودمغرب پروخت په خورک کې مشغوليږي په دي وجه په دي وختونوکې دبوډيوښځولپاره وتل مکروه نه دی.

ف:مګرفتوی داده چې په دي زمانه فسق کې په ټولولمونځونوکې دبوډيوښځووتل مکروه دي کمافي الهندية:وكره لهن حضور الجماعة الاللعجوز في الفجر والمغرب والعشاء والفتوى اليوم على الكراهة في كل الصلوات لظهور الفساد كذافي الكافي وهو المختار(هندية: ١/٨٩، وكذافي ردالمحتار: ١/٣١٩)

(١٥٢)وَفَسَدَ اقْتِدَاءُ رَجُلٍ بِامْرَأَةٍ أَوْ صَبِيٍّ أَمَّا (١٥٣)وَطَاهِرٍ بِمَعْذُورٍ(١٥٤)وَقَارِئٍ بِأُمِّيٍّ(١٥٥)وَمُكْتَسٍ بِعَارٍ(١٥٦)وَغَيْرِ مُومٍ بِمُومٍ (١٥٧)وَمُفْتَرِضٍ بِمُتَنَفِّلٍ(١٥٨)وَبِمُفْتَرِضٍ آخَرَ

ترجمه :اوفاسده ده دنراقتداء په ښځې ياهلک پسې ،اودپاک په معذورپسې ،اودقاری په امی پسې ، اوجامه اغوستونکی په لڅ پسې ،اوپه بغيراشاره دلمونځ اداء کونکی په اشاره په لمونځ کونکی پسې اودفرض اداء کونکی په متنفل پسې ،اوپه بل فرض اداء کونکی پسې .

تشريح :(١٥٢)يعني نارينه ولره دښځې اوهلک اقتداء کول ناجائزده دښځې اقتداء خوپه دي وجه ناجائزده چې نبی کريم ﷺ فرمايلي دي﴿أَخِّرُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَّرَهُنَّ اللهُ﴾ (ښځې موخري کړئ چيرته چې الله ﷻ دوئ موخري کړي دي)نوپه امام جوړلوکې ددوئ مقدم والی لازميږي ،اودهلک اقتداء په دوجه صحيح نه ده چې دهلک لمونځ دنه بالغ والي په وجه سره نفل دی لهذادبالغ مفترض اقتداءپه ده پسې صحيح نه ده .

ف:مشائخ بلخ په تراويح،عيدين اوصلوة کسوف کې دنابالغ امامت جائزګرځولی دی مګرصحيح داده چې جائزنه دی قال ابن عابدين:(قوله ونفل على الاصح)قال في الهداية وفي التراويح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ ولم يجوزه مشائخنا ومنهم من حقق الخلاف في النفل المطلق بين ابي يوسف ومحمدو المختار انه لايجوز في الصلوات كلها(ردالمحتار: ١/٣٢٨)

ف:هلک که بالغ وي مګرامرداوبې ږيري وي نودده ترشالمونځ اداء کول جائزخوده مګرغيرامرد له ده څخه مقدم دی خاص کرکله چې هغه امردصبيح اومليح وي .(فتاوی محموديه ٦،/٣١٥)

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزددنابالغ امامت صحيح دی ولې چې عمروبن سلمه رضي الله عنه خپل قوم امام جوړکړی وو په کوم وخت کې چې دده عمرشپږيااوه (٧)کاله وو،احناف ځواب ورکوي چې دادعمروبن سلمه رضي الله عنه دقوم اجتهاددی له نبی کريم ﷺ څخه ثابت نه دی . همداراز حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي هلک دي امام نه جوړيږي ترڅوچې بالغ نه وي .

(۱۵۳)قوله وطاهر بمعذور ای ولسد ایضا اقتداء مصل طاهر بمعذور ،یعنی دپاک کس اقتداء په معذوریعنی سلس البول (دکوم چې بولې جاري وي)وغیره په مریض پسې صحیح نه ده .همداراز دي پاکه ښځه دمستحاضه ښځې په اقتداء کې لمونځ نه اداء کوي ،په دي مسائلوکې اصل دنبی کریم ﷺ قول الامام ضامن (امام ضامن دی)یعنی دامام لمونځ دمقتدی لمانځه ته متضمن دی اوداهم قاعده ده چې شی له خپل ځان ځخه کمتر یاهم مثل لره متضمن کیدای شي له خپل ځان ځخه اقوی ته نه شي متضمن کیدای ،نوپه مذکوره صورتونوکې ځرنګه چې مقتدی پاک دی اوامام معذوردی په دي وجه دمقتدی لمونځ دامام له لمانځه ځخه اقوی دی نودامام لمونځ دمقتدی لمانځه ته متضمن نه دی په دي وجه دمقتدی لمونځ نه صحیح کیږي .

(۱۵۴)قوله وقاری بأمی ای ولسد اقتداء قاری بامی ،یعنی دقاری اقتداء په امی پسې صحیح نه ده ولی چې په دي صورت کې دمقتدی حال له امام ځخه اقویٰ دی ،له قاری ځخه مرادهغه کس دی دچاچې دومره مقدارقرآن مجید یادوي چې په هغه سره لمونځ صحیح کیږي اوامی هغه دی دچاچې دومره قرآن مجید یادنه وي .

(۱۵۵)قوله ومکتس بعار ای ولسد اقتداء مکتس بعار ،یعنی دجامې اغوستونکی اقتداء په لڅ پسې نه ده صحیح ولی چې په دي صورت کې هم دمقتدی حال له امام ځخه اقوی دی ،دجامې له اغوستونکی ځخه مرادهغه کس دی دچاچې سترپټ وي که ځه هم باقی بدن یې لڅ وي اوله لڅ ځخه مرادهغه کس دی کوم چې مستورالعورة نه وي .

(۱۵۶)قوله وغیر موم بموم ای ولسد اقتداء غیر موم بموم ،یعنی په رکوع اوسجده سره دلمونځ کونکې اقتداء په اشاره سره په لمونځ کونکې پسې نه ده صحیح ولی چې دمقتدی حال اقوی دی اودامام حال اضعف..اوپه ماقبل کې تیره شوه چې داقوی حال والاپه اضعف حال والاپسې لمونځ نه شي کولی .

(۱۵۷)قوله ومفترض بمتنفل ای ولسد اقتداء مفترض بمتنفل ،یعنی مفترض لره دمتنفل اقتداء کول جائزنه ده ولی چې اقتداء بناء (اتباع)ته ویل کیږي اودامام په حق کې وصف دفرضیت معدوم دی اودمقتدی په حق کې موجوددی ،اودامرموجودی بناء پرعدمی نه شي صحیح کیدای .

(۱۵۸)قوله وبمفترض اخرای وکذالسد اقتداء مفترض بمفترض فرضا اخر ،یعنی دیوه فرض اداء کونکی اقتداء په بل فرض اداء کونکی پسې صحیح نه ده مثلاً ظهردلمانځه داداء کونکی اقتداء دعصر دلمانځه په اداء کونکی پسې جائزه نه ده ولی چې اقتداء نوم دی په تحریمه کې دشرکت اوپه افعال بدنیه کې دموافقت ،اوشرکت اوموافقت هغه وخت کیدای شي کله چې ددواړوپه تحریمه اوافعالوکې اتحاد وي نوځرنګه چې په مذکوره صورت کې په تحریمه کې اتحادنشته په دي وجه به اقتداء هم صحیح نه وي .

(۱۵۹)لاأقتداء مُتوضيٍ بمُتيمم(۱۶۰)وغاسلٍ بماسحٍ(۱۶۱)وقائمٍ بقاعدٍ(۱۶۲)وبأحدب(۱۶۳)ومومٍ بمثله(۱۶۴)ومتنفلٍ بمفترضٍ(۱۶۵)وإن ظهر ان إمامه محدث اعاد(۱۶۶)وان اقتدی امی وقاری بامی اواستخلف امیافی الاخرین فسدت صلوتهم

ترجمه :اواقتداء فاسده نه ده داودس والاپه تیمم وهونکې پسې ،اودوینځونکې په مسح کونکی پسې، اوولاړکس په ناست پسې ،اوپه کوپي پسې ،اوداشاري کونکې په خپل مثل پسې ،اودنفل کونکې په فرض اداء کونکې پسې، اوکه ظاهرشوچې دده امام بی اودسه وونواعاده دي وکړي ،که اقتداء وکړه یوه امی

اویوه قاري په امي كس پسې يايې نائب جوړكړامي كس په اخرنيو دوو ركعتونو كې نوفاسديږي دټولولمونځ.

تشريح:(۱۵۹)قوله لاالقداء متوض بمتيمم اى لايفسد القداء متوض بمتيمم بل صح ،يعني دشيخينو په نزد متوضي كس دتيمم وهونكي اقتداء كولى شي اودامام محمد رحمه الله په نزد جائزنه ده ..دامام محمد رحمه الله دليل دادى چې تيمم طهارت ضروريه دى لهذا دمتيمم حال ادنى دى .اووضو طهارت اصليه دى نو دمتوضي حال اقوى دى اوقاعده وړاندې تيره شوه چې ادنى حال والاداقوى حال والاامامت نه شي كولى په دې وجه دمتوضي اقتداء په متيمم پسې صحيح نه ده. دشيخينو دليل دادى چې تيمم طهارة مطلقه دى ولى چې موقت نه دى ترلسوكلونوپورې هم كه اوبه نه وي نومشروع دى لهذامتيمم اومتوضي يوشان دي لهذادمتوضي اقتداء په متيمم پسې صحيح ده ،همدراز مروى ده چې حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه په تيمم سره صحابه كرامو رضي الله عنهم ته لمونځ وركړى ووحال داچې هغوئ اودسونه كړي وو بيانبى كريم صلى الله عليه وسلم په دې خبرشومګرنبى كريم صلى الله عليه وسلم داعاده صلوة حكم ونه كړ،دشيخينوقول راجح دى كمافى شرح التنوير:(وصح اقتداء متوض)لاماء معه (بمتيمم)(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۱/۴۳۵)

(۱۶۰)قوله وغاسل بماسح اى لايفسد اقتداء غاسل بماسح بل صح ،يعني دپښو دوينځونكى كس پرموزوپه مسح كونكى كس پسې اقتداء كول جائزده ولى چې دموزوو لاندې پښې پرمنځلي ښايې موزې په پښوكړي دي دموزې په وجه سره حدث ترپښې پورې نه رسيږي لهذاداكس پښې وينځونكى پاتې شواوكوم نجاست چې په موزه لګيدلى دى هغه مسح زائلوي په دې وجه دپښووينځونكى لره جائزده چې په موزوپه مسح كونكى پسې اقتداء وكړي.

(۱۶۱)قوله وقائم بقاعد اى لايفسد اقتداء قائم بقاعد بل صح ،يعني دشيخينو په نزد قائم په قاعد پسې لمونځ اداء كولى شي ،دامام محمد رحمه الله په نزدجائزنه ده ،دقياس تقاضاهم همداده ولى چې دقائم حال له قاعد څخه اقوى دى په دې وجه چې قاعد معذوردى اوقائم غيرمعذوردى ،ليكن شيخينو داقياس دحديث په وجه پرېښى دى هغه داچې نبى كريم صلى الله عليه وسلم په مرض الوفات كې په ناسته سره لمونځ وركړى وواوقوم له شاپسې ولاړوو.

ف:دشيخينوقول راجح دى كمافى شرح التنوير:(وصح اقتداء قائم بقاعد)يركع ويسجدلانه صلى الله عليه وسلم صلى آخر صلاته قاعداوهم قيام وابوبكر يبلغهم تكبيره(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۱/۴۳۵)

(۱۶۲)قوله وباحدب اى لايفسد اقتداء قائم باحدب بل صح ،يعني دشيخينو په نزدروغ كس لره په كوپى پسې (كوم ته چې په فارسي كې كوزه پشت ويل كيږي)اقتداء كول جائزده ولى چې دكوپي نصف اسفل مستوى دى لكه قائم چې دقاعداقتداءكولى شي ولى چې دقاعد نصف اعلى مستوى دى.

ف:دامام محمد رحمه الله په نزددكبړي اقتداء جائزنه ده .دشيخينوقول راجح دى كمافى الشامية :(قوله على المعتمد)هوقولهماوبه اخذعامة العلماء خلافالمحمدوصحح فى الظهيرية قوله ولايخفى ضعفه فانه ليس ادنى حالامن القاعد (ردالمحتار:۱/۴۳۶)

(۱۶۳)قوله وموم بمثله اى لايفسد اقتداء موم بمثله بل صح ،يعني په اشاره سره دلمونځ كونكي اقتداء په بل اشاره سره په لمونځ كونكي پسې صحيح ده ولې چې ددواړه حالت يوشان دى .

ف:مګرشرط دادى چې امام ولاړياناست وي اوكه امام پروت وي اومقتدى ولاياناست وي نوبناء برقول مختارپه دي وخت كې دمقتدى اقتداء صحيح نه ده كمالى شرح التنوير:(وموم بمثله) الاان يومى الامام مضطجعا والمؤتم قاعدااو قائماهو المختار:قال ابن عابدين:(قوله الاان يؤمي الخ)فانه لايجوز لقوة حال المأموم(الدرالمختارمع ردالمحتار: ۱/۳۳۶)

(۱۶۴)قوله ومتنفل بمفترض اى لايفسد اقتداء متنفل بمفترض بل صح ،يعني متنفل لره دمفترض اقتداء كول جائزده ولې چې دمفترض حالت قوى اودمتنفل حالت ضعيف دى نوپه دي كې دضعيف بناء پرقوى دى كومه چې جائزده ،مګرسوال دادى چې په رباعى لمانځه كې دامام په اخيرنيودوورکعتونوكې قرأة فرض نه دى حال داچې دمتنفل مقتدى په اخرنيودوورکعتونوكې هم قرأة فرض دى لهذاپه اخرنيودوورکعتونوكې اقتداء المفترض بمتنفل ده كومه چې جائزنه ده؟ ځواب :دااقتداء اواتباع په وجه سره دمقتدى دلمانځه اوس هغه حكم دى كوم چې دامام دلمانځه دى نوځرنګه چې دامام په حق كې په اخرنيودوورکعتونوكې قرأة نفل دى فرض نه دى دمقتدى په حق كې به هم نفل وي .

(۱۶۵)كه چاپه امام پسې لمونځ اداء كړوروسته مقتدى ته معلومه شوه چې دده امام بې اودسه وونوداكس دي خپل لمونځ راوګرځوي ولې مروى ده﴿ان النبى ﷺ صلى باصحابه ثم تذكرجنابة فاعادهاو قال من ام قوماثم ظهرانه كان محدثااوجنبا اعادصلوته واعادوا﴾(يعني نبى كريم ﷺ صحابه كرامو ﷺ ته لمونځ وركړيا دجنابت ديادېدلوپه وجه سره دلمانځه اعاده وكړه اووي فرمايل ځوك چې قوم ته لمونځ وركړي بيا ښكاره شي چې دى خوبې اودسه وويا جنب وونودى دي دلمانځه اعاده وكړي اوقوم د ي دخپل لمانځه اعاده وكړي ،دامام شافعي رحمه الله په نزدكه له اقتداء ځخه وروسته مقتدى ته دامام بې اودس والى معلوم شونوپرده دلمانځه اعاده نشته ولې چې دده په نزددعلى سبيل الموافقت دلمانځه دافعالوداداء كولونوم اقتداء دى يعني دامام لمونځ دمقتدى لمانځه ته متضمن نه دى لهذادامام دلمانځه په فاسدېدلو سره دمقتدى لمونځ نه فاسدېږي

(۱۶۶)كه يوه امّى اويوه قارى دبل امّى اقتداء وكړه نودټولولمونځ فاسدېږي دفسادوجه داده چې دقارى په موجودوالى كې دامّى امام جوړېدل صحيح نه دي په دي وجه چې دقارى په موجودوالى كې ټول په قرأة قادرشمارل كېږي ولې چې دقارى دامام جوړېدلوپه صورت كې دقارى قرأة دټولولپاره طرف ځخه قرأة شمارل كېږي اوسره له وجوده دقدرت په قرأة دقرأة په پرېښودلوسره لمونځ فاسدېږي .همداشان كه قارى دځلوررکعتي لمانځه په اخيرېنودوورکعتونوكې امّى خليفه جوړ كړنوپه دي صورت كې هم دټولولمونځ فاسدېږي دفسادوجه داده چې دلمانځه يوركعت هم له قرأة ځخه خالي نه وي خواه كه حقيقة وي ياتقديراًاوځرنګه چې دامّى په حق كې تقديراهم قرأة نشته ولې چې په امّى كې دقرأة اهليت نشته په دي شان داخيري دووركعتودبلاقرأة والى په وجه سره دټولولمونځ فاسدېږي .

باب الحدث في الصلوة

داباب په لمانځه کې دبې اودسه کېدلو په بيان کې دی

ددې باب له باب صفة الصلوة سره مناسبت دادی چې حدث په لمانځه کې له عوارضو ځخه دی او عوارض دشي له وجود ځخه وروسته پيښيږی نوپه دې وجه سره دده ذکر کيدل له باب صفة الصلوة ځخه وروسته مناسب دې اوتر باب مايفسد الصلوة دوړاندې کولو وجه يې داده چې دحدث في الصلوة لپاره داضروري نه ده چې دلمانځه مفسد به وي بلکه داسې هم کيدلای شي چې حدث دې پيښ شي مگر لمونځ فاسد نه وي لکه چې ددې تفصيلي صورت به په کتاب کې راشي ، حدث په لغت کې دقضاء حاجت په معنی دی اودشريعت په اصطلاح کې هغه تولې خبرې [امور] حدث دې دکوموپه وجه چې غسل يااودس واجب شي.

(١٦٥) وإن سبقه حدث توضأ وبنى واستخلف لو إماما كما لو حصر عن القراءة

ترجمه: چاته چې بې اودسې پيښه شي هغه دې اودس وکړي اوبنادې وکړي اويو ځوک دې نائب کړي که امام وي لکه چې له قرأت ځخه عاجز شي.

تشريح : که يوځوک دلمانځه په حالت کې بې اختياره بې اودسه شي نوداسړی دې دستي راوګرځي اواودس دې وکړي بنادې وکړي يعني پاتې لمونځ دې له اوداسه وروسته پوره کړي اوکه داکس امام وي نوله مقتديانو ځخه دې کوم يو خپل خليفه جوړکړي دکوم چې صورت دادی چې هغه ترکالو ونيسي اوترمحراب يې بوځي اوپه خپله دې اودس وکړی بنادی وکړی دقياس تقاضا خوداده چې لمونځ له سره راوګرځوي همدادامام شافعی اوامام مالک قول دی ليکن احنافو دنبی ﷺ ددوحديثو له کبله قياس ترک کړی دی هغه دوه حديثونه دادي (نمبر ١) ﴿قال صلى الله عليه وسلم من قاء أو رعف أو أمذى في صلاته فلينصرف وليتوضأ وليبن على صلاته ما لم يتكلم﴾ (يعنی چا قی ووهی ياپې پوزه وينې شوه ياپې مذي راووتل په لمانځه کې نوهغه دې راوګرځي اودس دې وکړي اوپرخپل لمانځه دې بنا وکړي ترڅوچې يې خبري نوي کړې) (نمبر ٢) ﴿قال صلى الله عليه وسلم إذا صلى أحدكم فقاء أو رعف فليضع يده على فمه وليقدم من لم يسبق بشيء﴾ (يعنی که په تاسې کې يو ځوک دلمانځه په حالت کې قی ووهي ياپې پوزه وينې شي نوپرخپله خوله دې لاس ونيسي او يو غير مسبوق سړی دې مخته کړي)

دبنادجواز شرطونه: دبنادصحت لپاره څو شرطونه دي.(١)چې حدث به موجب دغسل نه وي (٢) حدث به نادرالوجود حدث نه وي .(٣)دحدث په حالت کې کوم رکن ادا نه کړي(٤)داسې کوم دلمانځه منافی عمل ونه کړي چې له هغه ځخه ده لره چاره وي (٥) بې له عذر په اوداسه کې ځنډونه کړي (٦)حدث سابق بنکاره نه شي مثلا دمسح مده پوره شي (٧) که امام وي نوکوم داسې کس خپل خليفه جوړنه کړي چې په هغه کې دامامت اهليت نه وي .

ف: که داکس امام وو اوده خليفه جوړکړ اوپه خپله ولاړی اوداسه يې وکړ نوکه دده خليفه فارغ شوی وو نوده لره اختيار دی که وغواړي نوچې چيرته يې اودس کړی وي هلته دې بنا وکړي لمونځ دې پوره کړي ولی چې په دې کې تقليل مشی ده اوکه وغواړي خپل ځای ته دې بيرته راشي ولی چې په دې دول به

دلمانځه داداء كولومحل يو وي. همدا دوه اختياره منفرد لره هم شته. اوكه دده خليفه نه وو فارغ شوى نوكه دده اود امام ترمنځ حائل موجود وو نووجوباً دي خپل ځاى بيرته راشي اوخپل لمونځ دي پوره كړي دمقتدي هم همدا حكم دى كوم چې دامام دي كمافي شرح التنوير (ويتم صلاته ثمه) وهو اولاتقليلا للمشى (اويعود الى مكانه) ليتحد مكانها (كمنفرد) فانه يخير وهذا كله (ان فرغ خليفته والاعاد الى مكانه) حتما لو بينهما مايمنع الاقتداء (كالمقتدى اذاسبقه الحدث) (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۱/۴۳۸)

ف: په مذكوره مسئله كې كه څه هم بنا كول جائز دي مگر له سره لمونځ راگرځول افضل دى ترڅو له اختلاف څخه احترازوشي، بيا هم داستيناف (له سره راگرځولو) لپاره داضروري ده چې داول لمانځه لپاره دي سلام وگرځوي يادي په داسي فعل ختم كړي چې له لمانځه سره ضد وي بيا دي نوى لمونځ پيل كړي بې له سلام يابې له منافي فعل څخه استيناف (له سره راگرځولو) صحيح نه دى كمافي شرح التنوير: (واستينافه افضل) تحرزا عن الخلاف: قال ابن عابدين (قوله واستينافه افضل) اى بان يعمل عملاً يقطع الصلوة ثم يشرع بعدالوضوء (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/۴۳۶)

(۱۶۶) قوله كمالوحصر عن القراة اى كمالو حصر عن القراة فى الصلوة فاستخلف احداً جاز: يعني لكه څرنگه چې په مذكوره بالاصورت كې امام ته ديوچاخليفه جوړول جائزدي همدا شان كه كوم امام په لمانځه كې دننه سره له دې چې قرأة يې يادوي مگرد وارخطايي له كبله داسي عاجزشو چې قرأة يې نشواى ويلاى نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نز ده ته جائز ده چې يومقتدي نائب جوړكړي ،دصاحبينو په نز په دي صورت كې نائب استخلاف جائزنه دى ولې چې ددي عذر پيښيدل نادر دي لكه دلمانځه په حالت كې چې جنب كيدل نادر دي په دي وجه استخلاف جائزنه دى .البته كه دچا بالكل هير شو او هيڅ يې نشو ويلاى يعني بالكل يې په يادپاتې نه شونو دداسي كس لپاره خليفه جوړول بالاتفاق جائزنه دى بلكه دامام دامّي والي په وجه سره دتولو لمونځ باطل شو لهذا له سره دي نوى لمونځ وكړي.

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى كمافي شرح التنوير (يستخلف اذا حصر عن القراة قدر المفروض) لحديث ابى بكر الصديق رضي الله عنه فانه لما احس بالنبى ﷺ حصر عن القراة فتاخر فتقدم النبى ﷺ واتم الصلوة فلولم يكن جائزا لمافعله، قال ابن عابدين (قوله لمافعله) اى النبى ﷺ ماكان جائز اله يكون جائزا لامته هو الاصل لكونه قدوة لهم وفيه ايضاً ولايستخلف اجماعاً (لونسي القراة اصلا) لانه صار امياً، ففى الشامية (قوله ولايستخلف لانه صار امياً) فبطلت صلوة القوم واما صلوة الامام ففى الفصل السابع من الذخيرة ان القارى اذاصلى بعض صلوته فنسي القراة وصار امياً فسدت عنده ويستقبلها (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/۴۴۷)

(۱۶۷) وَإِنْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ بِظَنِّ الْحَدَثِ أَوْ جُنَّ أَوِ احْتَلَمَ أَوْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ اسْتَقْبَلَ (۱۶۸) وَإِنْ سَبَقَهُ حَدَثٌ بَعْدَ التَّشَهُّدِ تَوَضَّأَ وَسَلَّمَ (۱۶۹) وَإِنْ تَعَمَّدَهُ أَوْ تَكَلَّمَ تَمَّتْ صَلَاتُهُ

ترجمه: كه له مسجد څخه ووتى داودس دماتيدلو په گمان سره ياليونى شو ياجنب شو يابې هوښه شو نوله سره دې راوگرځوي ، اوكه بې اودسه شو له التحيات ويلو وروسته نواودس دي وكړي اوسلام دي وگرځوي اوكه يې په قصدا ودس مات كړ يابې خبري وكړي نودده لمونځ پوره شو.

تشريح: يعني كه يوڅوک په دې خيال له مسجد څخه ووځي چې زما اودس مات شو بيامعلومه شوه چې دده اودس نه دى مات شوى نوپه دي صورت كې به داكس خپل لمونځ بيرته له سره اداء كوي بناء كول جائزنه ده ولې چې له مسجد څخه وتل عمل كثير دى اوبې له ضرورته دى لهذا نودده لپاره بناكول جائزنه دي ،همداشان كه يو څوک په لمانځه كې ليونى شو يايوڅوک دلمانځه په حالت كې جنب شو ياپر لمونځ

كونكي بې هو بني راغله نو په دې صورتونو كې به هم لمونځ له سره ادا كوي ولې چې دا دې عوارض پېښېدل نادر دي لهذا دا دهغو عوارضو په معنى كې نه دي دكمو په حق كې چې نص وارد شوى دى يعني د رسول الله ﷺ قول .من قاء اورعف فى صلوته الخ.

ف: همدا شان كه لمونځ كونكي په زوره وخندل نو دده لپاره هم بنا جائز نه ده بلكه له سره به نوى لمونځ ادا كوي ولې چې قهقهه (په زوره خندل) په منزله دكلام ده په دې وجه چې په قهقهې او كلام دواړو سره دسامع فهم ته دمافى الضمير انتقال كيږي او كلام خود لمانځه قاطع دى نو قهقهه به هم قاطع وي لهذا د قهقهې كونكي لپاره هم بنا جائز نه ده كما فى العناية فى شرح الهداية (وكذالك اذا قهقه لانه) اى فعل القهقه (بمنزلة الكلام) فى ان كلاً منهما ينقل المعنى من ضميره الى فهم السامع (وهو) اى الكلام (قاطع) لانه ﷺ قال مالم يتكلم (العناية على هامش الفتح: ۱/ ۳۳۳ كذا فى الكفاية: ۱/ ۳۳۴)

(۱۶۸) يعني كه لمونځ كونكى له تشهد ويلو وروسته بې اودسه شو نو دا كس دې راو ګرځي اودس دې وكړي او سلام دې وګرځوي ولې چې سلام ګرځول واجب دى نو په دې وجه سره اودس كول ضروري دى ترڅو چې سلام وګرځوي اوكه دا كس امام وو نو يو څوك دې خليفه جوړ كړي ترڅو هغه به مقتديانو سلام وګرځوي.

(۱۶۹) اوكه لمونځ كونكى له تشهد ويلو وروسته په قصد اودس مات كړ يا يې په قصد خبرې وكړي نو ددلمونځ پوره شو ولې چې دقاطع الصلوة دوجود له كبله بناء كول خو متعذر شو او دلمانځه له فرائضو څخه دده پرذمه هيڅ فرض پاته نه دى ولې چې ترټولو اخيري فرض دامام ابو حنيفه رحمه الله پر مذهب خروج په فعل د لمونځ كونكي دى هغه په قصدي فعل سره موجود شو.

ف: ليكن ښه خبره دا وه چې مصنف دتمت صلوته پرځاى صحت صلوته ويلى واى ولې چې دده پرذمه سلام هم پاته دى چې دهغه په وجه سره دده لمانځه ته تام نشي ويل كيداى ولې چې سلام ګرځول واجب دى چې او س دهغه استدراك هم ممكن نه دى دكوم په وجه سره چې پرده دلمانځه اعاده واجب ده كما فى شرح التنوير (ان تعمد عملاً ينافيها بعد جلوسه قدر التشهد) ولو بعد سبق حدثه (تمت) لتمام فرائضها نعم تعاد لترك واجب السلام قال ابن عابدين (قوله تمت) اى صحت اذلا شك انها ناقصة لترك الواجب (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/ ۴۳۸) دامام شافعى رحمه الله پر مذهب څرنګه چې سلام ګرځول فرض دى لهذا دده پر مذهب په مذكوره بالا صورتونو كې لمونځ صحيح نه دى.

(۱۷۰) وبطلت إن رأى متيمم ماء أو تمت مدة مسحه أو نزع خفيه بعمل يسير أو تعلم أمي سورة أو وجد عار ثوبا أو قدر مومئ أو تذكر فائتة أو استخلف أميا أو طلعت الشمس في الفجر أو دخل وقت العصر في الجمعة أو سقطت جبيرته عن برء أو زال عذر المعذور

ترجمه: اولمونځ باطليږي كه تيمم وهونكي كس اوبه وليدې يا دمسح مده پوره شي يا موزې په عمل قليل سره وكاږي يا امي شخص يو سورة زده كړي يا لڅ كس جامه پيدا كړي يا اشاره كونكى شخص پر ركوع او سجده قادر شي يا يې قضاء شوى لمونځ په ياد شي يا امي كس خليفه جوړ كړي يا د سهار په لمانځه كې لمر راوخيږي يا د جمعې په لمانځه كې دعصر وخت داخل شي يا د جوړ والي له كبله جبيره ولويږي يا دمعذور شخص عذر ختم شي.

تشريح : په دې عبارت کې مصنف رحمه الله دولس(۱۲) مشهوري اختلافي مسئلې بيان کړي دي . /نمبر۱ متيمم لمونځ کونکي دتشهد په اندازه له کښېناستلو وروسته اوبه وليدې يعني داوبو په استعمال قادرهم شي /نمبر۲ پرموزوباندې مسح کړي وه دتشهد په اندازه له کښېناستلو وروسته دمسح مده پوره شوه په دې شرط چې دپښو پرېمنځلو لپاره به داوبو پراستعمالولو قادر وي /نمبر۳.له تشهد څخه وروسته يې په عمل قليل سره موزې وکښلې، مصنف رحمه الله لفظ دخفين تثنيه ويلى دى دااتفاقادي ولى چې ديوې موزې هم دغه حکم دى /نمبر۴ لمونځ کونکى امّي وو له تشهد څخه وروسته يې يوسورة زده کړ . له زده کولو څخه مراد يادېدل دى تعليم اوتعلم مرادنه دى ولى چې تعلّم عمل کثير دى /نمبر ۵ لمونځ کونکي په لڅ بدن لمونځ کوى له تشهد څخه وروسته يې جامه پيدا کړه ، په دې شرط چې جامه به پاکه وي يا نجسه وي ليکن دپاکولو اسباب موجود وي او دومره وي چې عورت پرې پټېږي ./نمبر۶ قوله اوقدر مؤم اى قدرمؤم على الرکوع وسجود ،لمونځ کونکى له رکوع اوسجدې څخه عاجز وو په اشاره سره يې لمونځ اداء کوى له تشهد څخه وروسته پر رکوع اوسجده قادر شو . /نمبر۷ لمونځ کونکي ته له تشهد څخه وروسته قضاء شوى لمونځ وریاد شو ، په دې شرط چې داکس صاحب ترتيب وي اوپه وخت کې هم وسعت (پراخي) وي . /نمبر۸ امام قاري وو له تشهد څخه وروسته ده ته حدث پيښ شو ده امّي خليفه جوړ کړ . /نمبر ۹ دسهار په لمانځه کې دتشهد په اندازه له کښېناستلو وروسته لمر راوختى ./نمبر۱۰ له تشهد څخه وروسته دعصر وخت داخل شو په داسي حال کې چې داکس دجمعې په لمانځه کې وو. /نمبر ۱۱ لمونځ کونکي پرجبيره مسح کړي وه له تشهد څخه وروسته دجوړ والي له کبله ولويده. /نمبر۱۲ لمونځ کونکى معذور وو له تشهدوروسته دده عذرمنقطع شو مثلاً دنکسير مريض وو (چې له پوزى څخه يې همېشه وينه روانه وه) له تشهد څخه وروسته دده نکسيرختم شو .

په مذکوره بالاصورتونوکې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد لمونځ باطل شو اودصاحبينو په نزد لمونځ پوره شو ځکه چې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په اختياري فعل سره له لمانځه څخه وتل فرض دى ولى چې ديوبل فرض لمانځه اداء کول ممکن نه دى ترڅوچې له دې لمانځه څخه ونه وځي اوله کوم فعل څخه بغير چې ترفرضو پورې رسېدل ممکن نه وي هغه هم فرض دى په دې وجه ددې عوارضو له لمانځه څخه تر وتلو وړاندې پېښېدل داسې دي لکه دلمانځه، په منځ کې پېښېدل اودلمانځه په منځ کې ددې عوارضو په پېښېدلو سره لمونځ باطلېږي لهذا اخيري قعدې څخه وروسته هم دلمانځه باطلونکي شيان پېښېدلى شي. دصاحبينو په نزد له لمانځه څخه په اختياري فعل سره وتل فرض نه دى لهذا له تشهد څخه وروسته ددې عوارضو پېښېدل داسي دي لکه له سلام ګرځولو وروسته پېښېدل ظاهره ده چې داعورض له سلام څخه وروسته مبطل دلمانځه نه دي نوله تشهد څخه وروسته هم مبطل دلمانځه نه دي.

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح اومفتى به دى كمافى الشامية (قوله وفى الشرنبلالية والاظهر قولهما الخ) اقول عزا ذالک الشرنبلالى فى رسالته الى البرهان ثم رده بانه لا وجه لظهوره فضلا عن کونه اظهر لانه استدل على ذالک بماليس فيه دلالة عليه ثم قال الشرنبلالى بعدما اطال فى رده ومن المقرر طلب الاحتياط فى صحة العبادة لتبرأ ذمة المکلف بها وليس الاحتياط الابقول الامام الاعظم انها تبطل

اه قلت وعليه المعول (ردالمحتار: ۱/۴۴۹، كذا في الهندية ۱/۹۷) له دې څخه دا هم ثابته شوه چې دراجح قول مطابق خروج بصنع المصلي فرض دی.

ف: كه لمونځ كونكي يو طرف ته سلام وګرځوی او دستي بې اودسه شو نولمونځ يې صحيح كيږي. (فتاوی محموديه: ۶/۵۸۱)

ف: كه رش زيات وو اويو سړی په اول صف كې وو او دده اودس مات شو نو دهر صف د دو(۲) كسانو په مابين كې دې راووځي اوكه راوتل مشكل وو نوهلته دې كښيني په لمانځه كې دې ګډون نه كوي ولې چې دلمانځه داصلاح (اودس وغيره) لپاره دلمونځ كونكو ترمخ تيريدل جائز دي لهذا دتلوپه وخت كې دې ددوئ ترمخ تېرشي اودبېرته راتلو تروخته كه هغه ځای خالي وو نوددوئ ترمخ په تيريدلو سره دې هغه ځای ډک كړي اوكه مخته دتيريدلو ځای نه وو نو دصف په پړي كولو سره هم تلای شي. (محموديه: ۶/۵۷۹)

(۱۷۱) وَصَحَّ اسْتِخْلَافُ الْمَسْبُوقِ (۱۷۲) فَلَوْ أَتَمَّ صَلَاةَ الْإِمَامِ قَدَّمَ مُدْرِكًا يُسَلِّمُ بِهِمْ (۱۷۳) فَيُفْسِدُهَا الْمُنَافِي صَلَاتَهُ دُونَ الْقَوْمِ (۱۷۴) كَمَا تَفْسُدُ بِقَهْقَهَةِ إِمَامِهِ لَدَى اخْتِتَامِهِ (۱۷۵) لَا بِخُرُوجِهِ مِنَ الْمَسْجِدِ وَكَلَامِهِ (۱۷۶) وَلَوْ أَحْدَثَ فِي رُكُوعِهِ أَوْ سُجُودِهِ تَوَضَّأَ وَبَنَى وَأَعَادَهُمَا (۱۷۷) وَلَوْ ذَكَرَ رَاكِعًا أَوْ سَاجِدًا سَجْدَةً فَسَجَدَهَا أَعَادَهُمَا (۱۷۸) وَتَعَيَّنَ الْمَأْمُومُ الْوَاحِدُ لِلِاسْتِخْلَافِ بِلَا نِيَّةٍ

ترجمه: اوصحيح دی نائب جوړول دمسبوق بياكه ده پوره كړ دامام لمونځ نومخته دې كړي مدرک هغه دې په قوم سلام وګرځوي، اوفاسديږي په منافي دلمانځه سره دده لمونځ نه دقوم، لكه چې فاسديږي دده دامام په قهقه (په زوره خندا) سره لمونځ په وخت داختتام كې، نه دامام له مسجد څخه په وتلو سره اودده په خبرو كولو سره، اوكه بې اودسه شو په ركوع كې ياپه سجده كې نو اودس دې وكړي اوبنا دې وكړي اوركوع وسجده دې راوګرځوي، اوكه يې په ياد شو په ركوع ياسجده كې سجده اوسجده يې وكړه نوهغه دې نه راګرځوي، اومتعين كيږي يومقتدي دنائب والي لپاره بې له نيت څخه.

تشريح: (۱۷۱) كه په لمانځه كې دامام اودس مات شو نودده لپاره جائز دی چې يومسبوق مقتدي (مسبوق هغه كس دی چې په دومره تاخير سره له امام سره شريک شي چې لږترلږه دده يوركعت له امام سره يواځې پاته شي) خپل نائب جوړكې ولې چې ددواړو په تحريمه كې مشاركت موجود دی البته دغير مسبوق شخص نائب جوړول اولی دی ولې چې هغه دلمانځه پر اتمام باندې ترمسبوق زيات قادر دی.

(۱۷۲) نو چې كله دامسبوق خليفه دامام لمونځ مكمل كړي نواوس دې يوداسې مقتدي مخته كړي چې هغه له شروع څخه له امام سره شريک وي هغه دې په مقتديانو سلام وګرځوي ولې چې په خپله دمسبوق لمونځ تراوسه لامكمل نه دی لهذا دمقتديانو دسلام ګرځولو لپاره دې يوغير مسبوق مقتدي مخته كړي اوخپله دې هغه ركعتونه اداكړي دكمو په وجه سره چې دی مسبوق شوی وو.

ف: امام ته چې كله بې اودسې پيښه شي نوچې څوک خليفه جوړكړي كه مسبوق وي كه مدرک هغه ته دې دپاتې ركعتونو تعداد دګوتو په اشاره وروښايې اوكه يې ركوع پر ذمه پاته وه نوپر زنګنو (ګونډو) باندې اوسجدې صلبيې لپاره دې پر تندي باندې اوسجدې تلاوت لپاره دې پرتندي اوژبه سره اوسجدهٔ سهوي لپاره دې پرسينه باندې په لاس ايښو دلوسره اشاره وكړي كمافي الدرالمختار: ويشير باصبع لبقاء ركعة وباصبعين

لركعتين، ويضع يده على ركبته لعرك ركوع، وعلى جبهته لسجود، وعلى فمه لقراءة، وعلى جبهته ولسانه لسجود تلاوة، او صدره لسهو (الدرالمختار على ردالمحتار ١/٣٤٣)

(١٧٣) اوس كه له دي مسبوق خليفه څخه كوم دلمانځه منافي كاركيږي نو ددي په وجه سره خپله دده لمونځ خو فاسديږي دنورو مقتديانو لمونځ نه فاسديږي ولې چې دلمانځه فاسدونكى په خپله دده په حق كې دلمانځه په منځ كې دى په دي وجه دده لمونځ فاسديږي اودمقتديانو لمونځ ځرنګه چې له دي مفسد څخه وړاندي مكمل شوى دى لهذا ددوئ لمونځ نه فاسديږي.

ف: اول امام كه تر دا وخته پوري له خپل لمانځه څخه فارغ شوى وو نو دده لمونځ نه دى فاسد اوكه نه وو فارغ شوى نو لمونځ يې فاسديږي وهوالاصح ولې ده چې كوم وخت مسبوق خپل خليفه جوړكړ نو په خپله ددي مسبوق مقتدي شو او مسبوق دده امام شو اودامام دلمانځه دفساد په وجه سره دمقتدي لمونځ هم فاسديږي كمافي شرح التنوير: (وكذا) تفسد (صلوة الامام) الاول (المحدث ان لم يفرغ فان فرغ) بان لم تو ضأولم يفتح شئ لاتفسد في الاصح لمامر انه كمؤتم (ردالمحتار: ١/٣٥٢)

(١٧٤) مذكوره بالا صورت داسي دى لكه چې دمسبوق كس امام دخپل لمانځه پوره كولو ته قريب قهقه (په زوره خندا) وكړي نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په داصورت كي دمسبوق لمونځ فاسديږي مګر دامام لمونځ نه فاسديږي حال داچې دصاحبينو په نزد ديوچا لمونځ هم نه فاسديږي ولې چې ددوئ په نزد په دي صورت كې ددي عارض په وجه سره په خپله دامام لمونځ نه فاسديږي سره له دي چې دقهقه صدروله امام څخه راغلى دى (يعني امام خندلي دي) نو دمسبوق لمونځ خو په طريقه اولى سره نه فاسديږي، دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد ځرنګه چې په دي صورت كې دلمانځه فاسدونكى دامام دلمانځه له كوم جز سره چې يوځاى شي هغه جزء فاسديږي لهذا دمسبوق لمونځ هم فاس ديږي ولې دلمانځه فاسدونكى عمل چې دمقتدي دلمانځه له كوم جزسره يوځاى شي هغه جزء فاسديږي كوم چې دپاتي لمانځه دبناليپاره مانع دى لان بناء على الفاسد فاسد البته دامام دلمانځه اركان ځرنګه چې پاى ته رسيدلي دي لهذا امام لره دخپل لمانځه پردي جزء فاسدباندي دبنا ضرورت نشته په دي وجه دامام لمونځ نه فاسديږي.

ف: دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجع دي كماقال الشيخ عبدالحكيم الشاه ولكوتي الشهيد: واختاروا ههنا قول الامام ومشى عليه المحققون (هامش الهداية ١/٩٨. وقال شارح التنوير (وتفسد صلوة مسبوق) عندالامام (بقهقهة امامه وحدثه العمد في) اى بعد (قعوده قدرالتشهد) الااذاقيدر كعة بسجدة لعادالفراده (ردالمحتار: ١/٣٥٢)

(١٧٥) قوله لابخروجه اى لاتفسد صلوة المسبوق بخروج الامام ،يعني كه امام دلمانځه اتمام ته نژدي له مسجد څخه ووتى ياپه دي حالت كې امام خبري وكړي نو دمسبوق لمونځ نه فاسديږي ولې چې دلمانځه داتمام پر وخت له مسجد څخه وتل ياخبري كول دلمانځه مفسد نه دي بلكه قاطع دلمانځه دى چې په هغه (قاطع) سره دمسبوق لمونځ نه فاسديږي.

(١٧٦) كه ديو شخص په ركوع ياسجده كې اودس مات شي نو داشخص دي ولاړشي اودس دي وكړي پاته لمونځ دي پوره كړي اوپه كومه ركوع وسجده كي چې يې اودس مات شوى وو دهغي اعاده دي

هم ضرور وكړي ولې چې داركوع اوسجده نه ده پوره شوې په دي وجه چې دكوم ركن تكميل له ده څخه په انتقال سره كيږي او دانتقال پروخت دده اودس نه وو نو دركن دنه پوره كيدلو په وجه سره اعاده ضروري ده.

ف: مګر شرط دادى چې سربه له ركوع اوسجدي څخه د اداء په نيت نه اوچتوي كه داسي نه وي نولمونځ به فاسديږي ولې داخبره وراندي تيره شوه چې دبنالپاره داشرط دى چې دحدث په حالت كې يو ركن اداء نه كړي كمافى شرح التنوير: (ولواحدث الامام) لاخصوصية فى هذا المقام (فى ركوعه اوسجوده تو ضاوبنى واعادهما) فى البناء على سبيل الفرض (مالم يرفع رأسه) منهما (مريدا للاداء امااذارفع) رأسه (مريدا به اداء ركن فلا) يبنى بل يفسد (ردالمحتار: ۱/۳۵۲)

(۱۷۷) كه يوچاته دركوع ياسجدي په حالت كې يوه پاته شوي سجده وريادشوه نودى فورا (دستي) سجدي ته ولاړى نواوس دي دهغي ركوع ياسجدي اعاده نه كوي له كومي څخه چې دى سجدي ته تللى وو ولې چې شرط دادى چې له ركن څخه به انتقال مع الطهارة شوى وي اودا شرط دلته موجود دى لهذا اوس دهغې اعاده ضروري نه ده.

(۱۷۸) كه ترامام شاته صرف يومقتدي وو نودامام له نيت څخه پرته هغه دخليفه كيدو لپاره متعين دى ولې چې دلمانځه ساتنه په همدي كې ده په تېرشوو صورتونو كې دمزاحمت په وجه سره امام لره دخليفه معلومول ضروري وو دلته هيڅ مزاحمت نشته امام اول به اودس وكړي په ده پسي به اقتدأ وكړي ولې چې دامام اول دبې اودسه كيدو په وجه سره امامت دده طرف ته راګرځيدلى دى بيانو كه په ده كې دامام اهليت نه وو نو دامام لمونځ فاسديږي.

بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا

داباب دلمانځه دمفسداتو اومكروهاتو په بيان كې دى

ددي باب له ماقبل سره مناسبت دادى چې په ماقبل كې دهغو عوارضوذكر شول كوم چې په لمانځه كې په غير اختياري ډول سره پيښيږي اوپه دي باب كې دهغه عوارضو بيان دى كوم چې دلمونځ كونكى په اختيارسره پيښيږي بيايې غيراختياري عوارض په دي وجه مقدم كړل چې هغه په عارضيت كې كامل دي ولې چې دهغه په دفع كولو باندي بنده قدرت نه لري اوكامل احق بالتقديم وي.

(۱۷۹) يُفْسِدُ الصَّلَاةَ التَّكَلُّمُ (۱۸۰) وَالدُّعَاءُ بِمَا يُشْبِهُ كَلَامَنَا (۱۸۱) وَالْأَنِينُ وَالتَّأَوُّهُ وَارْتِفَاعُ بُكَائِهِ مِنْ وَجَعٍ أَوْ مُصِيبَةٍ لَا مِنْ ذِكْرِ جَنَّةٍ أَوْ نَارٍ (۱۸۲) وَالتَّنَحْنُحُ بِلَا عُذْرٍ (۱۸۳) وَجَوَابُ عَاطِسٍ بِيَرْحَمُكَ اللَّهُ (۱۸۴) وَفَتْحُهُ عَلَى غَيْرِ إمَامِهِ (۱۸۵) وَالْجَوَابُ بِلَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ (۱۸۶) وَالسَّلَامُ وَرَدُّهُ

ترجمة: لمونځ فاسدوي خبري كول، اوداسي دعاكول كومه چې زمونږ له خبرو سره مشابه وي ، اوژړل اواوه اوه كول اوپه لوړ اواز سره ژړل ددرد يا ديو مصيبت له كبله نه دجنت يا دوږخ دياديدلو له كبله . اوغاړي تازه

كول بې له عذره ،او پر نچ كونكي ته په يرحمک الله باندې ځواب وركول،او فتح وركول له خپل امام څخه غيرته، او ځواب وركول په لااله الا الله باندې، او سلام اچول او دهغه ځواب وركول.

تشريح : (١٧٩) يعني كه يوچا په خپل لمانځه كې په قصد يا په هيره خبرې وكړې نو دده لمونځ فاسديږي ولې چې دحضرت معاوية ابن الحكم رضی الله عنه حديث دې چې ﴿قال ﷺ إنّ هذه الصلاة لا يصلح فيها شيء من كلام الناس وانما هي التسبيح والتهليل وقراءة القرآن ﴾ (يعني زموږپه دې لمانځه كې دخلګوله خبرو څخه دشي هم لياقت نشته، داخو فقط تسبيح او تهليل او قرأة دقرآن دی).

ف: دامام شافعي رحمه الله په نزد دخطا او هيرې په صورت كې خبري لمونځ نه فاسدوي ﴿لقوله ﷺ رفع عن أمتي الخطأ والنسيان ﴾ (زما له امت څخه خطاء اونسيان پورته شوي دي) احناف ځواب وركوي چې له رفع خطاء ونسيان څخه مطلب دادی چې دخطا او هيرې په صورت كې ګناه نشته دا نه چې په لمانځه كې فساد نه راځي .

(١٨٠) قوله والدعاء بما يشبه كلامنا اى يفسد الصلوة الدعاء بما يشبه كلامنا . يعني په داسې الفاظو باندې دعاء كول هم لمونځ فاسدوي كوم چې دخلګوله خبروسره تشبيه لري مثلاد داسې شي غوښتل چې دهغه غوښتل له بنده څخه محال نه وي لكه اللهم زوجنى فلانة ولې چې دادخلګوله خبروسره تشبيه لري اودكوم شي غوښتل چې له بندګانو څخه محال وي لكه اللهم اغفرلى نودا له كلام الناس سره تشبيه نلري لهذا په دې سره لمونځ نه فاسديږي .

(١٨١) قوله والانين اى ويفسد الصلوة الانين ، انين بفتح الهمزة، هغه اواز ته ويل كيږي كوم چې له آه څخه پيدا شي او ،تأوه، په معنى د ،أوه، كولوسره دی يعني دلمانځه په حالت كې د درد له كبله څخه آه يا أوه ويلو باندې هم لمونځ فاسديږي همدا شان كه دكوم مصيبت يا درد له كبله داسې وژاړي چې له هغه څخه حروف پيدا شي نو هم لمونځ فاسديږي ولې چې په دې كې دجزع فزع اودتأسف اظهار دی كوم چې له كلام الناس څخه دی نوګوا كې مصيبت زده داسې وايي . انا مصاب فعزونى ، اوپه كلام الناس سره خولمونځ فاسدی كمامر.هو كه لمونځ كونكي په لمانځه كې دجنت يا دوږخ دياديدو له كبله وژړل نودده لمونځ نه فاسديږي ولې چې دا دخشوع اوعاجزي دزيادت دليل دی اوپه لمانځه كې خومقصود شی خشوع اوعاجز ي ده.

ف: همدا شان كه كوم مريض دآه ،أوه په درولو باندې قدرت نه لري نوخاص دده په حق كې دضرورت له كبله داسې آه،أوه دلمانځه مفسد نه بلل كيږي ولې چې په دې وخت كې دا د پرچې (نيږي) اوټوخي په شان دي كمافي شرح التنوير :الاالمريض لايملک نفسه عن انين وتأوه لانه حينئذ كعطاس وسعال وجشاء وتثاوب وان حصل حروف للضرورة(ردالمحتار: ١/٥٨٣)

(١٨٢) قوله والتنحنح اى يفسد ايضا التنحنح بلا عذر ، يعني دلمانځه په حالت كې بې ضرورته ټوخل چې له هغه ټوخي څخه حروف پيدا شي دا لمونځ فاسدوي ولې چې داكلام شمارل كيږي اوكه دعذر په وجه سره وو بيالمونځ نه فاسدوي لكه په پرچي (نيږي)چې لمونځ نه فاسديږي كه څه هم له هغه څخه حروف هجاء پيداشي .

ف: بې له عذر څخه په لمانځه کې توخل لمونځ فاسد وي په دې شرط چې په توخلوسره حروف پيداشي اوبې له اظهار څخه دحروفو توخل مکروه دې اومحض دتحسين دصوت لپاره يادامام درهنمايې لپاره يادې شودلولپاره چې زه په لمانځه کې يم توخل جائزدی کمافی شرح التنویر (والتنحنح) بحرفين (بلاعذر) اما به بان نشأمن طبعه فلا (او) بلا (غرض صحيح) فلو لتحسين صوته اوليهتدی امامه او للاعلام انه فی الصلوة فلافساد علی الصحيح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار: ۱/۴۵۷، کذافی حاشية الشيخ عبدالحکيم الشاولکوټي الشهيد رحمه الله: ۱/۱۴۰)

(۱۸۳) قوله وجواب عاطس بيرحمک الله ای يفسد الصلوة جواب عاطس بير حمک الله ،يعنی دچاپه پرچي (نيرږي) باندې په يرحمک الله سره په ځواب ورکولوهم لمونځ فاسد يږي ولې چې دا له کلام الناس څخه شمارل کيږي اوهمداشان نبی کريم ﷺ په داسې موقع باندې حضرت معاوية بن الحکم رضی الله عنه ته داسې فرمايلي وو ﴿إِنَّ هٰذِهِ الصَّلَاةَ لَا يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ وَإِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيحُ وَالتَّهْلِيلُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ﴾ يعنی زموږ په لمنځونو کې دخلګودخبرو هيڅ لياقت نشته بزموږلمونځ خو صرف تسبيح تهليل اوقرآة القرآن دی.

(۱۸۴) قوله وفتحه علی غير امامه ای يفسد الصلوة فتح المقتدی علی غير امامه ،يعني دلمانځه په حالت کې له خپل امام څخه بغير بل لمونځ کونکي ته په غلطي کولو سره فتح ورکول هم لمونځ فاسدوي ولې چې داخوتعليم اوتعلم دی لهذا له کلام الناس څخه دکيدلو په وجه سره لمونځ فاسد وي.

ف: مګر خپل امام ته فتح ورکول لمونځ نه فاسدوي يعني نه دمقتدي لمونځ فاسديږي او نه دامام مګر يوقول شته چې که امام دومره قرآة ويلې ووچې لمونځ پرې جائز وو نوبيافتح ورکول لمونځ فاسدوي مګرصحيح خبره داده چې په دې صورت کې هم فتح ورکول لمونځ نه فاسدوي کمافی شرح التنوير (بخلاف فتحه علی امامه) فانه لايفسد (مطلقا) لفاتح واخذ بکل حال (ردالمحتار: ۱/۴۶۰)

(۱۸۵) قوله والجواب بلااله الاالله ای ويفسد الصلوة الجواب بلااله الاالله ، يعني که دچاپه مخ کې وويل شول چې أمع الله اله آخر (ايا له الله سره بل اله شته) ده په ځواب کې وويل لااله الا الله نودطرفينو په نزد په دې ځواب سره دده لمونځ فاسديږي ولې چې داد پرچي (نيرږي) والا ته په يرحمک الله سره دځواب ورکولو په شان دی لهذا په دې هم لمونځ فاسديږي.

ف: دامام ابويوسف رحمه الله په نزد په لااله الا الله سره ځواب ورکول لمونځ نه فاسدوي ولې چې دادثناء صيغه ده دلمونځ کونکي په نيت سره نه بدليږي طرفين ځواب ورکوي چې مدار دمتکلم په نيت باندې دی همدا وجه ده چې که لمونځ کونکی ووايې . يابنی ارکب معنا ، اوقصد يې خطاب وي نودا مفسد دلمانځه دی.

ف: دطرفينو قول راجع دی کمافی شرح التنوير (وکذا) ای يفسدها (کل ماقصد به الجواب) کان قيل امع الله اله فقال لااله الاالله ....ولايفسد الکل عند الثاني والصحيح قولهما عملا بقصد المتکلم (ردالمحتار: ۱/۴۵۹)

(۱۸۶) قوله والسلام ورده ای ويفسد الصلوة السلام وردالسلام ،يعنی لمونځ کونکي دلمانځه په حالت کې يوچاته سلام وروا چوی يا يې يوچاته دسلام ځواب ورکړ نودده لمونځ فاسديږي ولې چې داکلام دی اوکلام مفسد دلمانځه دی دمصنف په مطلق ،السلام ،ويلو کې دې طرف ته اشاره ده چې صرف لفظ سلام . مفسد دلمانځه دی که څه هم د.عليکم ،لفظ نه ووايي.

(۱۸۷) وافتتاح العصر او التطوع (۱۸۸) لاالظهر بعد ركعة الظهر (۱۸۹) وقراءته من مصحف (۱۹۰) والاكل والشرب (۱۹۱) ولو نظر الى مكتوب وفهمه (۱۹۲) او اكل مابين اسنانه (۱۹۳) او مر مار في موضع سجوده لاتفسد وان اثم

ترجمه: شروع كول دعصر يا نفلو (مفسد دي)، نه په خپله دماپشين په لمانځه دماپشين له يو ركعت اداء كولو څخه وروسته، او دلمونځ كونكي قرأة ويل له قرآن شريف څخه، او دلمونځ كونكي خوراك او څښاك ،اوكه يو چا وكتل ليكل شوي شي ته اووي فهموي، اويايي وخوري دغابنو دمنځ يو شي، اويا تيرشو يو تيريدونكى دده دسجدي په ځاى كې نو لمونځ نه فاسديږي كه څه هم دتيريدلو والا ګنهكار يږي.

تشريح: يعني كه يو چا دماپشين دلمانځه د يو ركعت له اداء كولو وروسته دعصر دلمانځه يادنفلو نيت وكړ الله اكبر يې ووايه نودده دماپشين لمونځ فاسد شو ولى چې دده په دي دوهم لمانځه كې شروع كول صحيح شوه لهذا داول لمانځه څخه ووتى اودلمانځه له منځ څخه وتل لمونځ فاسدوي.

(۱۸۸) قوله لاالظهر اى لايفسد ها افتتاح الظهر ،يعني كه يوچا دماپشين دلمانځه له يو ركعت اداء كولو څخه وروسته خپله دماپشين دلمانځه نيت وكړ الله اكبر يې ووايه نودده دماپشين لمونځ نه فاسديږي ولى چې دده ذداسي لمانځه دشروع كولو نيت وكړ چې په هغه كي دى فى الحاله شروع دى لهذا دده دانيت لغو دى اومخكنى نيت يې پر خپل حال پاتي دى.

ف:البته كه يې په ژبه سره دنيت تلفظ وكړ نودده مخكنى لمونځ فاسديږي ولى چې چې په نيت باندې تلفظ كول دخبرو له قبيلي څخه دى چې په هغه سره سابقه لمونځ فاسديږي كمافى الشامية:(قوله مطلقا) اى سواء انتقل الى المغاير او المتحدة لان التلفظ بالنية كلام مفسد للصلوة الاولى فصح الشروع الثانى (ردالمحتار: ۱/ ۳۶۱)

(۱۸۹) قوله وقراءته من مصحف اى يفسدها ايضا قرأة المصلى من مصحف . يعني لمونځ كونكي كه قرأن مجيد ته كتل اوتلاوت يې كوى نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد يې لمونځ فاسددى ولى چې دقرأن مجيد راپورته كول اوپه هغه كې كتل اودهغه ورقي اړول عمل كثير دى لهذا لمونځ يې فاسديږي اوبل په دي طريقه كې له قرأن مجيد څخه زده كړه راځي نولكه څرنګه چې له غير څخه په لمانځه كې زده كړه كول لمونځ فاسدوي همداشان له قرأن مجيد څخه زدكړه هم لمونځ فاسدوي.

ف: په عمل كثير اوقليل كې دامامانو اختلاف دى دشوافعو په نزد باندي داسي افعال چې هغه له لمانځه څخه نه وي مسلسل دري (۳) ځله كول عمل كثير دى په كوم سره چې لمونځ فاسديږي او له دي څخه كم عمل قليل دى چې هغه مفسد دلمانځه نه دى. له احنافو څخه دعمل كثير اوقليل په شان كې مختلف اقوال نقل شوي دي ،يو قول دادى چې هر هغه عمل كثير ګڼل كيږي كوم چې په دوا ړولاسونو ترسره كيږي ،يو قول دادى چې په عمل كثير كې په خپله دلمونځ كونكي رأيه معتبره ده كوم چې لمونځ كونكى كثير وبولي هغه كثير دى او كوم چې قليل وبولي هغه قليل دى لكن دعامو خلكو لپاره ددي تعين كول مشكل معلوميږي . يو قول هم هغه دى كوم چې دشوافعو وو ، يو قول دادى چې هرهغه عمل چې دلمانځه له افعالو څخه نه وي اوله هغه څخه مقصد دلمانځه اصلاح هم نه وي اودده دي عمل ته كتونكى شخص په دي باره كې داګمان وكړي چې دى پرلمانځه نه دى ولاړ نوداعمل كثير دى ، همدا داكثرو مشائخو رأيه ده او همدا قول مفتى به دي كمافى شرح التنوير : وفيه اقوال خمسة اصحها (مالايشك) بسببه (الناظر) من بعيد (فى فاعله انه ليس فيها) قال ابن عابدين (قوله وفيه

اقوال خمسة اصحها مالا يشك الخ) صححه في البدائع وتابعه الزيلعي والولوالجي وفي المحيط انه الاحسن وقال الصدر الشهيد انه الصواب وفي الخانية والخلاصة انه اختيار العامة (ردالمحتار: ۱/ ۳۶۱)

ف: که دیوچا دخارش مرض وي او هغه باربار (بیاًبیا) بدن ګروي که یې هر ځل علیٰحده لاس نه پورته کوي بلکه په یو ځل لاس پورته کولو سره یې دري (۳) ځله بدن وګر وی نو لمونځ یې نه فاسدیږي او که هغه له یو ځل ګر ولو وروسته دیوه رکن په اندازه (دري ځله دسبحان ربی الاعلی په اندازه) انتظار وکړ بیایې وګروی نو په داشان دري (۳) ځله ګر ولو سره هم لمونځ نه فاسدیږي قال ابن نجیم، والمراد بالتكرار ثلاث متواليات لمافي الخلاصة وان حك ثلاثا في ركن واحد تفسد صلاته هذا اذا رفع يده في كل مرة اما اذا لم يرفع في كل مرة فلاتفسد لانه حك واحد، وهو تقيد غريب تفصيل عجيب ينبغي حفظه (البحر الرائق: ۲/ ۲۰۲)

لیکن مفتی محمود حسن ګنګوهی رحمه الله لیکي: که یې په یوه رکن کې دري (۳) ځله بدن وګروی نو لمونځ دي نه قطع کوي بلکه ددوهم ځل دي بیا ددي لمانځه اعاده وکړي .(فتاوی محمودیه : ۶/ ۶۰۲)

حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب نورالله مرقده لیکي: په مطلقا دري (۳) ځله ګرولو سره لمونځ نه فاسدیږي بلکه داهغه وخت مفسد دی چې هر ځل لاس پورته کوي او که یې هر ځل لاس نه پورته کاوه بلکه یو ځل یې لاس پورته کړ دری (۳) ځله یې بدن وګر وی نو لمونځ یې نه فاسدیږي همدا شان که یې له یو ځل ګر ولو وروسته په اندازه درکن (یعنی دري (۳) ځله سبحان ربی الاعلی) په مقدار توقف وکړي بیایې وګر وي نوداشان دري (۳) ځله ګرول هم لمونځ نه فاسدوي ....په بعض عباراتو کې د ثلاث حرکات متوالیة پرځای ثلاث حرکات فی رکن دی په دي کې درکن څخه مقدارِ رکن مراد دی یعنی په څومره وخت کې چې دري (۳) ځله سبحان ربي الاعلیٰ ویل کیږي ظاهره خبره ده چې په دومره وخت کې که دري (۳) حرکات واقع شي نودامتوالي دي داهم ویلای شو چې له وحدت درکن سره توالي (پیوستوالی) هم شرط ده نوپه یو طویل (اوږد) رکن کې دري (۳) حرکات داسې واقع کیدل چې اخیري حرکت په اندازه درکن وروسته وي نو لمونځ نه فاسدوي الخ .(احسن الفتاوی : ۳/ ۴۱۶)

(۱۹۰) قوله واکله وشربه ای ویفسد الصلوة اکل المصلی وشربه ،یعني په لمانځه کې دلمونځ کونکي خوراک اوڅښاک هم لمونځ فاسدوي ولی چې خوراک اوڅښاک له لمانځه سره منافی دي بیانو که په قصد یوشی وخوري یاوڅښي او که په هیره په داورو صورتونو کي لمونځ فاسدیږي ولی چې حالت دلمانځه ددي یادونکی دی چې داوخت دخوراک نه دی لهذا هیره په لمانځه کې عذر نه ده په خلاف دروژي ولی چې د روژي حالت یادونکی نه دی لهذا په روژه کې هیره عذر شمارل کیږي .

(۱۹۱) که لمونځ کونکي خپل مخته لیکل شوي شي ته وکتل دهغه معنی یې وفهموله لمونځ یې نه فاسدیږي ولی چې لمونځ په عمل کثیر سره فاسدیږي کوم چې دلته نه دی موجود شوی.

(۱۹۲) همدا دول که یې په غاښونو کې بند کوم شی وخوری نوهم دده لمونځ نه فاسدیږي ولی چې له دي څخه احتراز ممکن نه دی همداوجه ده چې په دي سره روژه نه فاسدیږي الاداچې داکثیروي نوبیالمونځ فاسدیږي اوپه قلیل او کثیر کې فاصل دنخود مقدار دی یعین دنخود له اندازي څخه چې کم وي نوقلیل دی او که دنخود په اندازه یاله دي څخه زیات وي نو کثیر شمارل کیږي .

(۱۹۳) همداشان که دلمونځ کونکي دسجدي پرځای یو تیریدونکی تیرشو نوبه دي سره هم لمونځ نه فاسدیږي﴿ لقوله ﷺ لا يقطع الصلاة شيء وادرءوا ما استطعتم فإنه شيطان ﴾ (یعنی دهیڅ شي تیریدل لمونځ نه قطع کوي ځومره چې ممکن وي هغه منع کړئ ولی چې هغه شیطان دی)لیکن دلمونځ کونکي مخته تیریدونکی انسان ګنهکا رګرځي﴿لقوله ﷺ لو علم المار بين يدي المصلي ماذا عليه لوقف ولو اربعين ﴾(یعني که دلمونځ کونکي مخته تیریدونکی شخص خبر وای چې پرده ځومره ګناه ده نودی به ولاړوای که څه هم ترڅلوېښتو کلونو اویاورځوپوري وای)، په مسند بزارکي څلوېښت کاله په یقین سره ذکر دي كما قال الشيخ الانور في فيض الباري: وفي مسند البزار اربعين سنة بالجزم وفي حديث آخر مائة سنة (فيض الباري: ۲/۸۵)

ف: دستري په باره کې دحضرت مفتی رشید احمد صاحب نورالله مرقده یوښه تحقیق نقل کوم دیوسوال په ځواب کې حضرت فرمایلي دي که په دومره کوچنی مسجدیاکوټه یاسرای کې لمونځ اداء کوي چې دهغه ټوله رقبه ۱۶۰۰الاسه (۴۵۱،۳۳۴ مربع میټر)څخه کمه وي نودلمونځ کونکي مخته تیریدل مطلقا روانه دی که لیري تیرشي که نږدې بهرحال ګناه کار دی البته که په خلاص میدان کې ۳۳۴،۰ مربع میټر یاله دي څخه په لوی مسجدکې یاپه لویه کوټه کې یاپه لوی سرای کې لمونځ اداء کوي نودسجدي پرځای له نظر اچولو څخه چې ترکوم ځای پوري بالطبع نظر رسیږي ترهغه ځای پوري تیریدل نه دی جائز له دې څخه هاخواته تېریدل جائز دی بنده ددي اندازه ولګوله نودسجدي له ځای څخه دیوصف په شاوخواشوه لهذادلمونځ کونکی له موضع قیام څخه ددووصفوپه اندازه تقریبااته پوټه (۲،۴۴میټر)په پرېښودلوسره تیریدل جائزدی .(احسن الفتاوی :۴/۴۰۹)

ف:دضرورت پروخت دستري هم مفتی رشیداحمد صاحب قدس سره مختلف صورتونه لیکلي دي، دیو سوال په ځواب کې فرمایي :چې ستره لږترلږه بایدله یوه لاس څخه لوړه وي .له دې څخه په کم لوړوالی په اکتفاء کې اختلاف دی .راجح قول دادی چې بقدرذراع ستره میسره نه وي نوله دي څخه کمه هم کافی ده،دضرورت پروخت دسترې څوصورتونه دي، مثلا(۱)کوم داسې شی چې له یوه ذراع څخه لږ لوړوي ، (۲)لکړه وغیره مخته ایښودل که دریدلی نه شوای (۳)مخته خط کښول .لکړه اوخط طولاً یعنی دقبلې طرف ته کیدل ډیرښه ده .که څه هم عرضاهم جائزده .(۴)دجانمازیاجامې په خپرولوسره پردي لمونځ اداء کول .(که دوه کسه تیریدل وغواړي نویودي دلمونځ کونکی مخته دده طرفه ته په شاکولو سره ودرېږي اودوهم دي تیرشي .بیادي هغه په همدي ډول دلمونځ کونکی مخته ودرېږي اواولنی دي تیرشي، (۵) یوقول مصحح داهم دی چې ۳۶۰۰مربع فوټه (۳۳۴،۴۵۱مربع میټر)یاله دي څخه په لوی مسجداوصحراء کې له موضع سجودڅخه هغه خواته تیریدل بدون ستره جائزدی.دیوبل سوال ځواب لیکي :چې که تیریدونکی خپل دسمال (څادر)ځوړندکړي یاخپله لکړه ودروي اودهغې شاته تیرشي نوبظاهرددي له جوازڅخه کوم مانع نشته .لهذادضرورت پروخت ددي ګنجائش شته ، بالخصوص په داسې حال کې چې عندالبعض دلرګي پرځکه اچول یاخط کښول هم دستري لپاره کافی ده،علاوه له دي څخه په مسجدکبیراوصحراء کې له موضع سجودسره دکراهت مروردتخصیص قول هم مصحح دی ، دضرورت پروخت پردي دعمل کولو ګنجائش شته .(احسن الفتاوی : ۳/۴۱۰)

(۱۹۴) و کرہ عبثہ بثوبہ وبدنہ (۱۹۵) وقلب الحصی الاللسجود مرة (۱۹۶) وفرقعة الاصابع (۱۹۷) والتخصر (۱۹۸) والالتفات (۱۹۹) والاقعاء والافتراش ذراعیہ (۲۰۰) ورد السلام بیدہ

ترجمه: او مکروه ده دلمونځ کونکی بازی کول پر خپله جامه یا بدن باندي، او دبري لیري کول مګر د سجدي لپاره یو ځل (مکروه نه دی)، او دګوتو ټکان ایستل، او پر بغلو لاس و نو نیول، او دلته هلته کتل، او دواړه بازوګان خپرول، او دسلام ځواب ورکول په لاس سره.

تشریح: کله چي مصنف رحمه الله له مفسدات صلوة څخه فارغ شو نو په مکروهات صلوة یې شروع وکړه ولي چي مفسدات او مکروهات دواړه له عوارضو څخه دي بیا مفسدات ځکه چي له مکروهاتو څخه قوي دي په دي وجه یې مفسدات مقدم ذکر کړل.

(۱۹۴) یعنی دلمونځ کونکی پر خپله جامه او بدن باندي بازی کول مکروه تحریمي ده «لان النبی ﷺ قال ان الله کره لکم ثلاثا العبث فی الصلوة والرفث فی الصیام والضحک فی المقابر» (یعنی نبی کریم ﷺ فرمایلي چي الله تعالی ستاسي لپاره دري شیان مکروه کړي دي یو په لمانځه کي بازی کول دوهم دروژي په حالت کي بدی خبري کول دریم په قبرستان (هدیره) کي خندل). له عبث څخه مراد هر هغه کار دی چي په هغه کي څه فائده نه وي دلته له عبث څخه هغه فعل مراد دی کوم چي له افعال صلوة څخه نه وي.

(۱۹۵) قوله وقلب الحصی ای وکره قلب الحصی، یعنی دلمانځه په حالت کي لمونځ کونکی لره دډبرو لیري کول هم مکروه تحریمي دی ولي چي دا هم یو قسم فعل عبث دی، هو که چاده ډبرو په وجه سره سمه سجده نه شوای کولی نو یو ځل دلیري کولو اجازه شته ولي چي نبی کریم ﷺ حضرت ابوذر رضی الله عنه ته وفرمایل «مرة یا اباذر والا فذر» (یعنی که له موضع سجده څخه یو ځل دډبري لیري کړي نو ددي اجازه شته که نه نو دا هم پریږده)، نو که یې یو ځل هم لیري نه کړي بلکه پریږدي نو دا افضله ده.

(۱۹۶) قوله وفرقعة الاصابع ای وکره فرقعة الاصابع، یعنی دلمانځه په حالت کي لمونځ کونکی لره دګوتو ټکان ایستل هم مکروه دي «لماروی علی ابن ابی طالب عن النبی ﷺ لا تفرقع اصابعک وانت فی الصلوة» (یعنی دلمانځه په حالت کي دګوتو ټکان مه باسه)، همدا حکم دتشبیک هم دی یعنی دلمانځه په حالت کي ګوتي یو په بل کي داخلول هم مکروه تحریمي دي ولي چي حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي دتشبیک په حالت کي لمونځ اداء کول دهغو خلکو لمونځ دی پر کوم وچي دالله تعالی غضب شوی دی.

(۱۹۷) قوله والتخصر ای وکره التخصر، یعنی دلمانځه په حالت کي لمونځ کونکی لره تخصر کول مکروه دی یعنی پر بغل دی لاس نه ایږدي «لحدیث ابی هریرة رضی الله عنه قال نهی رسول الله ﷺ ان یصلی الرجل مختصرا» (ولي چي نبی کریم ﷺ پر بغل دلاس اېښودلو په حالت کي له لمونځ اداء کولو منع فرمایلي ده)، همدا راز دتخصر کولو په صورت کي دمسنون طریقي ترک لازمیږي او ددمتکبرینو خلکو فعل دی په دي وجه هم تحریما مکروه دی.

(۱۹۸) قوله والالتفات ای وکره التفات، یعنی دلمونځ کونکی دي دلمانځه په حالت دغاړي په ګرځولو سره التفات نه کوي «لحدیث انس رضی الله عنه قال ﷺ ایاک والالتفات فی الصلاة فان الالتفات فی الصلاة هلکة» (یعنی په لمانځه کي له التفات څخه ځان وساتئ ولي چي په لمانځه کي التفات هلاکت دی).

ف:صرف دسترګو په کنجانو سره دلته هلته کتل خلاف اولی او مکروه تنزیهی دی کمافی شرح التنویر: (والالتفات) بصره یکره تنزیها(ردالمحتار: ۱/۴۷۵)، او په اختیار سره له قبلې څخه سینه ګرځول مفسدصلوة ده خواه که لږوي او که زیات وي او که په اختیار سره نه وي نو بقدر یو رکن مفسد دی له دې څخه کم مفسد نه دی کمافی الشامیة :(قوله بغیر عذر)قال فی البحر فی باب شروط الصلوة والحاصل ان المذهب انه اذاحول صدره فسدت وان کان فی المسجداذا کان من غیر عذر کما علیه عامة الکتب اه واطلقه فشمل مالو قل او کثر وهذا لو باختیاره والافان لبث مقدار رکن فسدت والافلا(ردالمحتار: ۱/۳۶۳)

(۱۹۹)قوله والاقعاء والافتراش ذراعیه ای ویکره الاقعاء والافتراش ذراعیه ،یعنی دلمانځه په حالت کې لمونځ کونکی لره دسپی په شان کښېنستل او په سجده کې دداړو بازوګانو خپرول مکروه دي ﴿لِقَوْلِ أَبِي ذَرٍّ نَهَانِي خَلِيلِي عَنْ ثَلَاثٍ أَنْ أَنْقُرَ نَقْرَ الدِّيكِ وَأَنْ أُقْعِيَ إِقْعَاءَ الْكَلْبِ وَأَنْ أَفْتَرِشَ افْتِرَاشَ الثَّعْلَبِ﴾ (یعنی زه زما خلیل ﷺ له دریو شیانو څخه منع کړم یو داچې د چرګ په شان مښوکه ووهم او دوهم داچې دسپی په شان اقعاء وکړم او دریم داچې لاسونو خپاره کړم دګیدړې په شان)،اقعاء داده چې په خپلو کوناتو کښېنې خپل دواړه ورنونه ودروي او خپل دواړه زنګنونه له سینې سره یو ځای کړي او دواړه لاسونه پر ځمکه کښېږدي ،داهم مکروه تحریمي دی.

(۲۰۰)قوله ورد السلام بیده ای ویکره رد السلام بیده ،یعنی دلمانځه په حالت کې دلاس په اشاره سره دسلام ځواب ورکول مکروه تنزیهی دی ولی چې دامعنی سلام دی ،لیکن که لمونځ کونکی دسلام په نیت سره مصافحه وکړه نو دده لمونځ فاسدیږي ولی چې بنیت سلام مصافحه کول عمل کثیر دی او په عمل کثیر لمونځ فاسدیږي.

ف:له لمونځ کونکی سره خبری کول ،او دلمانځه په حالت کې دسر یا لاس په اشاره سره ځواب ورکول مکروه نه دی مثلاً له لمونځ کونکی څخه پوښتنه وشوه چې ایا فلانی شی په فلانی ځای ایښی دی ؟ده دسر په بورولو سره اشاره وکړه چې نعم، یا له لمونځ کونکی څخه پوښتنه وشوه چې څو رکعتونه شوي دي ؟ده دلاس د ګوتو په اشاره سره تعداد وښود ،نو دده له دې عمل څخه پر لمانځه هیڅ اثر نه پریوځي کمافی الدرالمختار:لاباس بتکلیم المصلی واجابته برأسه ،کمالو طلب منه شیء ،اوارای درهما وقیل اجید؟فاوما بنعم او لا ،اوقیل کم صلیتم فاشار بیده انهم صلوا رکعتین (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: ۱/۴۷۶)

(۲۰۱)وَالتَّرَبُّعِ بِلَاعُذْرٍ (۲۰۲)وَعَقْصِ شَعْرِهِ(۲۰۳)وَكَفِّ ثَوْبِهِ(۲۰۴)وَسَدْلِهِ(۲۰۵)وَالتَّثَاؤُبِ(۲۰۶)وَتَغْمِيضِ عَيْنَيْهِ(۲۰۷)وَقِيَامِ الْإِمَامِ لَا سُجُودِهِ فِي الطَّاقِ(۲۰۸)وَانْفِرَادِ الْإِمَامِ عَلَى الدُّكَّانِ وَعَكْسِهِ

ترجمه :او په چارزانو کښېنستل بلاعذره (مکروه ده)او د وېښتانو چوټۍ جوړول ،او جامه راټولول ،او سدل کول، او ارمیږی کښل ،او سترګې پټول ،او دریدل دامام په محراب کې نه دده سجده کول په محراب کې ،او تنهاء دامام پر لوړ ځای دریدل او دده عکس مکروه دی.

تشریح :(۲۰۱)قوله والتربع بلاعذر ای ویکره التربع بلاعذر ،یعنی لمونځ کونکی لره دلمانځه په حالت کې چارزانو کښېنستل مکروه تنزیهی دی ولی چې په دې ډول کښېنستلو کې دقعده مسنونه ترک لازمیږي، ځینو حضراتو یې وجه دکراهت دا بیان کړي ده چې چارزانو کښېنستل دمتکبرینو خلکو عادت دی ،مګر دا صحیح نه ده ولی چې دنبی کریم ﷺ او حضرت عمر ﷺ دواړو په چارزانو ناسته ثابته ده حال داچې نبی کریم ﷺ دمتکبرینو له عاداتو څخه منزه دی.

(۲۰۲)قوله وعقص شعره اى ويكره عقص شعره ،يعنى دلمونځ كونكى په داسې حال كې لمونځ كول مكروه تحريمي دى چې معقوص الشعروي يعنى ويښتان يې پرسرباندې ياپرڅټ باندې جمع كړې وي اوپه سرېښوسره يې منښلولي وي ياېې په تارتړلى وي ﴿لماروى ان النبى ﷺ نهى ان يصلى رجل وهومعقوص الشعر﴾ (يعنى مروى ده چې نبى كريم ﷺ منع وفرمايله چې نارينه په دې په داسې حال كې لمونځ اداء كړي چې دى معقوص الشعروي).

(۲۰۳)قوله وكف ثوبه اى ويكره كف ثوبه ،يعنى دلمونځ كونكى خپله جامه راټولول مكروه تحريمي دى لماروى عن ابن عباس ﷺ ﴿ان رسول الله ﷺ قال امرت ان اسجدعلى سبع ولا اكف الشعرولا الثياب﴾ (حضرت ابن عباس ﷺ فرمايې چې نبى كريم ﷺ وفرمايل ماته امرشوى دى چې په ۱۷عضاؤسجده وكړم بزه ويښتان اوجامې راټولې نه كړم)،همداراز په پورته كيدلواوكښته كيدلوكې دجامو په ټولولوكې يوقسم تكبردى ، اودجاموټولول دادى چې كله لمونځ كونكى دسجدې كولواراده وكړي نوله خپل مخته طرف ياشاله طرف څخه جامې راپورته كړي .

(۲۰۴)قوله وسدله اى ويكره سدل الثوب ،يعنى لمونځ كونكى لره دلمانځه په حالت كې خپله جامه ځوړندول مكروه تحريمي ده ولې چې حضرت ابوهريره ﷺ راوى دى ﴿ان رسول الله ﷺ نهى عن السدل فى الصلوة وان يغطى الرجل فاه﴾ (يعنى نبى كريم ﷺ دلمانځه په حالت كې له سدل اوخولې پټولو څخه منع فرمايلې ده) .سدل دادى چې لمونځ كونكى جامه پرخپل سريااوږوباندې واچوي اودهغې كنارې په خپلوطرفونو ځوړند پريږدي .داخودڅادرپه باره كې دى اوپه جبه(چپنه)وغيره كې سدل دادى چې جبه پراوږوواچوي اولاسونه دهغې په لستونوكې دننه نه كړي.

ف:دمحنت (كاركولو)په داسې جاموكې لمونځ كول مكروه تنزيهى دى په كوموكې چې عاموم‌جالسوته په تللوكې خلك عار(شرم)محسوسوي په دې شرط چې له دې جامو څخه علاوه له ده سره نورې جامې هم وي ،همداحكم په مسجدكې دايښودل شويودپوزى اوپلاسټك دخولويودى كمافى شرح التنوير:(وصلاته فى ثيابه بذلة)يلبسهافى بيته (ومهنة) اى خدمة ان له غيرها والالا،وقال ابن عابدين:قال فى البحروفسرهافى شرح الوقاية بمايلبسه فى بيته ولايذهب به الى الاكابروالظاهران الكراهةتنزيهية(ردالمحتار:)

ف:په كوموعلاقوكې چې دپګړى نه تړل خلك شنيع بولي هلته بغيرله پګړى لمونځ كول اووركول مكروه دى كماقال الشيخ الانورقدس سره :والمحقق عندى انهالكره فى البلادالتى لعدشيئامحترمابخلاف البلادالتى لااعتبارلها بهاولااعتدادفلاتكون مكروهة (فيض البارى: ۸/۱).حضرت تهانوى رحمه الله ليكي :كه كوم كس بغيرله پګړى څخه له كوره نه راوځي نودې كس لره په خپله بغيرله عمامې لمونځ كول مكروه دى خواه كه امام وي يانه وي.(امدادالفتاوى :۲۵۶/۱)

ف:له عمامې (پګړى)ترلوسره لمونځ كول موجب ثواب دى اوپرخولى باندې ددسمال وغيره په ترلوسره دعمامې فضليت نه حاصليږي ترڅوچې دسنت موافق عمامه نه وي دسنت مطابق عمامې مقداراوه ۷لاسه دى اوبعض اوقات دولس۱۲لاسه عمامه هم له نبى كريم ﷺ څخه ثابته ده.(محموديه :۴۵/۶).وعمدة الرعاية على هامش شرح الوقاية:۱۹۹/۱)

(۲۰۵) قوله والتثاؤب ای ویکره التثاؤب ،یعني لمونځ کونکی لره دلمانځه په حالت کې ارمیړی کول مکروه دی ولی چې دادستی علامه ده ﴿وقال ﷺ التثاوب فی الصلوة من الشیطان فاذا تثاوب احدکم فلیکظم مااستطاع﴾ حضرت ابوهریرة ﷺ فرمایې چې نبی کریم ﷺ وفرمایل به لمانځه کې ارمیړی کول له شیطان څخه دي نو کله چې ارمیړي راسي په تاسې کې یوه ته نو خوله بنده کړئ ترکومه چې ستاسې طاقت وي).

ف: بیاکه ممکنه وه نو دخولې دبند ساتلو لپاره دېنوندي په غاشو کښیکاږي او که په دې ډول خوله بنده نه شوی پاته کیدای نو لاس دي پرخوله کښیږدي یادي په لستوني سره خوله بنده کړي بلاعذره په لاس یالستوني خوله بندول مکروه دی کمافی الشامیة :والحق بالید الکم وهذا اذا لم یمکنه کظمه ای رده وحبسه فقد صرح فی الخلاصة بان ان امکنه عندالتثاؤب ان یاخذ شفته بسنه فلم یفعل وغطی فاه بیده اوبثوبه یکره کذا روی عن ابی حنیفة (ردالمحتار: ۱.۴۷۷)

ف: ارمیړی کول که طبعا وونو په دي کې څخه مضائقه نشته او که عمدا اوي نو دامکروه تحریمی دی ، او قول راجح دادی چې دارمیړی په وخت دي دخولې بندولو لپاره دکین لاس ورغوی استعمال کړي ،لانه لدفع الشیطان ،نو دادفع خبث په شان دی لهذا دي لپاره کین لاس اولی دی ،البته دقیام په حالت کې څرنګه چې دکین لاس په استعمال سره عمل کثیر لازمیږي لهذا دقیام په حالت کې دي ښې لاس استعمال شي کمافی الشامیة :ثم فی المجتبی :یغطی فاه بیمینه وقیل بیمینه فی القیام وفی غیره بیساره .قلت ووجه القیل اظهر ولانه لدفع الشیطان کمامر فهو کازالة الخبث وهی بالیسار اولی لکن فی حالة القیام لما کان یلزم من دفعه بالیسار کثرة العمل بتحریک الیدین کانت الیمین اولی، وقدمنا فی آداب الصلوة عن الضیاء ان بظهر الیسری ....واما التثاؤب نفسه فان نشا من طبیعته بلاصنعه فلاباس ،وان تعمده ینبغی أن یکره تحریما لانه عبث وقدمر ان العبث مکروه تحریما فی الصلوة وتنزیها خارجها (الشامیة: ۱/۴۷۷)

(۲۰۶) قوله وتغمیض عینه ای ویکره تغمیض عینه ،یعني لمونځ کونکی لره دلمانځه په حالت کې سترګې پټول مکروه تنزیهی دی ولی له دي څخه منع شوي ده ﴿قال ﷺ اذا قام احدکم الی الصلوة فلایغمض عینه﴾ (یعنی کله چې له تاسې څخه کوم یو لمانځه ته ولاړشي نو سترګې دي نه پټوي)،همداراز په لمانځه کې دهرعضو عبادت متعین دی دسترګو عبادت دادی چې دقیام په حالت کې دي دسجدې ځای ته ګوري ،او په حالت قعود کې دي سینې ته ګوري حال داچې دسترګو په پټولو کې ددي عبادت ترک لازمیږي.

(۲۰۷) قوله وقیام الامام لاسجوده فی الطاق ای ویکره قیام الامام فی الطاق ولایکره سجوده فیه اذا کان قائما خارج المحراب.

یعني صرف دامام په محراب کې دریدل مکروه تنزیهی دی ولی چې صرف دامام لپاره دمخصوص ځای انتخاب کول داهل کتابو عمل دی نو له اهل کتابو سره دتشبیه په وجه سره مکروه دی ،البته که امام له محراب څخه دباندي ولاړوي صرف سجده په محراب کې کوي نو دامکروه نه دی ولی چې اعتبار پښو لره دی، لیکن که دعذر په اساس مثلا دځای دتنګوالی په وجه امام په محراب کې ودریږي نو مکروه نه دی.

(۲۰۸) قوله وانفراد الامام علی الدکان ای ویکره انفراد الامام علی الدکان ،یعني صرف دامام په لوړځای دریدل مکروه دی حال داچې مقتدیان ټول کښته وي ولی چې په دي کې له اهل کتابو سره تشبه ده چې اهل کتاب دخپل امام لپاره دمخصوص ځای انتخاب کوي ،ځینې حضراتو یې داوجه بیان کړي ده چې په دي صورت کې ددواړو طرفونو پر مقتدیانو دامام حالت مشتبه کیږي ،اوددي عکس هم مکروه دی یعني چې مقتدیان

تول په لوړځاى وي اويواځې امام كښته وي ولې چې په دې كې دامام تحقيردى ،البته كه له امام سره څو خلك هم وي نوبيا كراهت نشته ،دعلامه شامي رحمه الله درأى مطابق داكراهت تنزيهي دى .

ف:دلوړوالي څومره مقدارد لته معتبردى ؟نوپه دې سلسله كې له احنافو څخه څواقوال منقول دي امام طحاوى رحمه الله فرمايي چې دمتوسط(درميانه)انسان دقدپه برابري لوړوالي وي نومكروه دى اوكه له دې څخه كم وونومكروه نه دى، اوځينې وايي چې كه ديوذراع (گز)په اندازه لوړوالي ووبيامكروه ده اوكه له دي څخه كم وي نوكراهت نشته دي دويم قول والا په ستري قياس كړى دى ،دځينوپه نزددومره اندازه لوړځاى وي چې په هغه سره په امام اومقتديانو كې امتياز ثابت شي .

(٢٠٩)وَلُبسُ ثَوبٍ فِيهِ تَصَاوِيرُ (٢١٠)وَأَن يَكُونَ فَوقَ رَأسِهِ أَو بَينَ يَدَيهِ أَو بِحِذَائِهِ صُورَةٌ إلَّا أَن تَكُونَ صَغِيرَةً أَو مَقطُوعَةَ الرَّأسِ أَو لِغَيرِ ذِي رُوحٍ (٢١١)وَعَدُّ الآيِ وَالتَّسبِيحِ (٢١٢)لَا قَتلُ الحَيَّةِ وَالعَقرَبِ (٢١٣)وَالصَّلَاةُ إلَى ظَهرِ قَاعِدٍ يَتَحَدَّثُ (٢١٤)وَإِلَى مُصحَفٍ أَو سَيفٍ مُعَلَّقٍ أَو شَمعٍ أَو سِرَاجٍ (٢١٥)وَعَلَى بِسَاطٍ فِيهِ تَصَاوِيرُ إن لَم يَسجُد عَلَيهَا

ترجمه:اوداسې جامه په تن كول (مكروه ده)چې په هغې كې تصويرونه وي ،اوداچې وي دده پرسريادده مخته يادده په برابري كې كوم تصويرمگرداچې ډيركوچنى وي يايې سرپرې وي يادغيرذى روح تصويروي ،اوشمارل دآيتونو او تسبيحاتو ،نه دماراولړم وژل ،اولمونځ كول دناست خبري كونكى كس شاته ،اودقرآن مجيدطرف ته يا دځوړندي توري طرف ته يادشمع طرف ته يادڅراغ طرف ته ،اوپر داسې مصلى باندې چې په هغې كې تصويرونه وي كه يې سجده نه كوله پرتصويرونو باندې .

تشريح :(٢٠٩)قوله ولبس ثوب فيه تصاوير اى ويكره لبس ثوب فيه تصاوير ،يعنې دلمونځ كونكى داسې جامه په تن كول مكروه ده چې په هغې كې دذى روح تصويرونه وي په دې شرط چې هغه دومره لوي چې پرځمكه په اېښودلوسره كه دقيام په حالت كې هغه ته وكوري نودهغه اعضاء نه ښكاريږي ولې چې داله حامل صنم سره مشابهت دى لهذادامكروه دى .

ف:كه له تصويرسره لمونځ نه كوي بياهم دتصويرونوجوړول ،اوساتل مكروه دي امام نووى رحمه الله دتصويرپه حرمت باندې اجماع نقل كړى ده ﴿لقوله ﷺ اشدالناس عذابايوم القيامة المصوررون يقال لهم احيوا ماخلقتم ﴾(يعنى په خلكوكې ترټولو زيات عذاب به په ورځ دقيامت دتصويرجوړونكووي دوئ ته به وويل شي ژوندئ كړئ كوم چې تاسې جوړكړي وو).

(٢١٠)قوله وان يكون فوق رأسه اوبين يديه اى ويكره ان يكون التصوير فوق راس المصلي اوبين يديه ،يعنې دلمونځ كونكى پرسريامخته ياپه برابري كې دكوم تصويرموجودوالي مكروه دى ولې چې دادذي تصويرله عبادت سره مشابهت دى، همدرازپه حديث شريف كې دي ،جبرئيل عليه السلام فرمايي موږهغه كورته نه داخليږوپه كوم كې چې سپى وي ياتصويروي .

ف:البته كه تصويربالكل كوچنى وي چې په ځمكه په اېښودلوسره دقيام په حالت كې هغه ته وگوي نودهغه اعضاء نه ښكاريږي يامقطوع الرأس وي يادكوم غيرذى روح تصويروي نومكروه نه دى ولې چې دداسې تصويرونوعبادت نه كيږي لهذاداسې تصويرونه دبت په حكم كې نه دي كمافى شرح التنوير:(او كانت صغيرة)لاتتبين

تفاصيل عضائها للناظر فانما وهي على الارض ذكره الحلبي (او مقطوعة الراس او الوجه) او ممحوة عضو لاتعيش بدونه (او لغير ذي روح لا) يكره لانها لاتعبد (ردالمحتار: ١/٤٧٩)

(٢١١) قوله وعدالآى اى ويكره ايضا عدالآى، يعني لمونځ كونكى لره په لمانځه كې دآيتونو يا تسبيحاتو په گوتو شمارل مكروه دي ولى چې داله اعمال صلوة څخه نه دى، په غيرظاهر الرواية كې له صاحبينو څخه مروى دى چې په لاسونو دآيتونو په شمارلو كې څه حرج نشته ولى چې دمسنون قرأة درعايت ساتلو لپاره كله پر لاسونو دآيتو دشميرلو ضرورت وي.

ف: اختلاف په گوتو باندي دآيتونو په شمارلو كې دى كه صرف دگوتو سرونه كنبينل شي يا يې په زړه كې يادوساتي نو بيا بالاتفاق مكروه نه دى كما في العناية وفتح القدير: ثم محل الخلاف فيما عد بالاصابع او بخيطه يمسكه اما اذا احصى بقلبه او غمز بالانامه فلاكراهة (فتح القدير: ١/٣٦٥)

ف: دابوداؤدشريف له يوه حديث څخه په ډبروو غيره دتسبيحاتو ويلو جواز ثابتيږي حضرت سعدابن ابى وقاص ﷺ فرمايي انه دخل مع رسول الله ﷺ على امراة وبين يديها نوى او حصى تسبح به (چې زه له نبى كريم ﷺ يوي ښځې ته ورغلم دهغې مخته ډبري يادخرمازني پراته وواوهغې پردي تسبيح ويل)، پرهمدي باندي علماؤ سبحه مروجه (تسبيح) قياس كړي دي په دواړكې فرق صرف دمنظوم (پيلو) اوغيرمنظوم دى له كوم څخه چې پرجواز څه اثرنه پريوځي حال دا چې په منظوم كې اسانې هم ډيره ده، بلكه په څينې رواياتو كې ددي ترغيب راغلى دى له حضرت على ﷺ څخه مرفوع روايت دى، نعم المذكر السبحة، البته دغاړگى په څيريه غاړه كې اچول يادبنګړو په څير پرلاس پيچل يادخبرو په دوران كې اړول ياله معتاد طريقي څخه جلاډيري غټې تسبيح (تسپې) جوړول وغيره امورڅرنگه چې دشهرت طلبى شيان دي په دي وجه داطريقه غلطه اوبدعت ده.

(٢١٢) قوله لاقتل الحية والعقرب اى لايكره قتل الحية او العقرب، يعني په لمانځه كې په لږعمل سره دماراولړم وژل مكروه نه دي لحديث ابى هريرة ﷺ قال مز رسول الله ﷺ بقتل الأسودين في الصلاة (له حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چې نبى كريم ﷺ دلمانځه په حالت كې دماراولړم دوژولو حكم كړى دى). همدارزپه دي كې دزړه مشغولونكى لامل دفع كيږي كوم چې له اصلاح لمانځه څخه دى. دځينو حضرات رأيه داده چې كه له دوئ څخه دضرر انديښنه وي نو ددوئ وژل مكروه نه دى كه نه نو مكروه دى.

(١١٣) قوله والصلوة الى ظهر قاعد يتحدث اى ولاتكره الصلوة الى ظهر قاعد يتحدث، يعني دداسې كس شاته لمونځ كول مكروه نه دي كوم چې ناست وي اوسوكه سوكه خبرې كوي ولى مروى ده چې بعض صحابه كرامو ﷺ به تلاوت كاوو، اوبعضو به علمى مذاكره كوله، اوبعضو به لمونځ كاوونبى كريم ﷺ به دوئ نه منع كول نوكه مكروه واى نونبى كريم ﷺ به ضرور دوئ منع كولاى، مگرشرط دادى چې دمخته كس مخ به دلمونځ كونكى طرف ته نه وي اوپه لوړاوازسره به خبرې نه كوي چې لمونځ كونكى په تشويش كې ولويږي كه نه نو بيا مكروه دى.

(٢١۴) قوله والى مصحف اوسيف معلق اوشمع اوسراج اى لاتكره الصلوة الى مصحف اوسيف معلق اوشمع اوسراج، يعني دقران مجيد طرف ته يادځوړندي توري طرف ته يادموم بتى طرف ته يادڅراغ طرف ته لمونځ اداء كول

مکروه نه دي ولې چې ددې شيانو عبادت نه کيږي حال داچې کراهت دداسې شيانو طرف ته په لمانځه اداء کولو کې دی دکوموچې عبادت کيږي.

(۲۱۵)قوله اوعلي بساط فيه تصاوير ان لم يسجدعليهااى لاکره الصلوة على بساط فيه تصاوير ان لم يسجدعليها يعنی په داسې فرش لمونځ اداء کول مکروه نه دی چې په هغه کې تصويرونه وي ولې چې دفرش تصويرونه تر پښو لاندې کيږي لهذا په دې کې دتصوير تعظيم نه توهين دی ،په دې شرط چې دسجدې پرځای نه وي که نه نو مکروه دی ولې چې دسجدې په ځای دکيدلوپه صورت کې له بت پرستانو سره مشابهت لازميږي اودبت پرستانو مشابهت مکروه دی.

فصل

کله چې مصنف رحمه الله دهغو امورو له بيان څخه فارغ شو کوم چې په لمانځه کې مکروه دي نو يې دخارج صلوة مکروه امورو په بيان شروع وکړه په دواړو قسمونو کې دفرق کولو لپاره يې دفصل عنوان ورکړ.

(۲۱۶)کره استقبال القبلة بالفرج في الخلاء واستدبارها(۲۱۷)وَغَلْقُ بَابِ الْمَسْجِدِ(۲۱۸)وَالْوَطْءُ فَوْقَهُ وَالْبَوْلُ وَالتَّخَلِّي(۲۱۹)لاَفَوْقَ بَيْتٍ فِيهِ مَسْجِدٌ(۲۲۰)وَلاَ نَقْشُهُ بِالْجِصِّ وَمَاءِ الذَّهَبِ

ترجمه:مکروه ده دقبلې طرف ته مخ کرځول دقضاء حاجت په وخت کې اوددې طرف ته شاکرځول ،اوبندول دمسجد ددروازې، اووطی کول پرمسجد بالا،اوبولې اوپاخانه کول ،نه دداسې کور پرسر چې په هغه کې مسجد وي ،اونه منقش کول دمسجد په ګچو اودسرو زرو په اوبو باندې.

تشريح:(۲۱۶)دپاخانې اوبولو کولو پروخت دقبلې طرف ته مخ کرځول یاشاکرځول مکروه دي خواه که په آبادې کې وي اوکه په ځنګل کې وي﴿لحديث ابى ايوب الانصارى رضي الله عنه قال قال ﷺ اذااتيتم الغائط فلاتستقبلوا القبلة بغائط ولابول ولاتستدبروها﴾(حضرت ابوايوب انصارى رضي الله عنه فرمايې چې نبی کريم ﷺ وفرمايل کله چې تاسې قضائ حاجت ته ولاړشی نو دقبلې طرف ته مخ مه ګرځوئ اومه دقبلې طرف ته شاګرځوئ).

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدکه دقبلې اوبولې کونکی ترمنځ حائل(پرده)وي وي نوبيامکروه نه ده ﴿لحديث عبدالله بن عمر رضي الله عنه قال ارتقيت على ظهر بيتنا فرأيت رسول الله ﷺ على لبنتين مستقبل بيت المقدس لحاجة﴾ (يعنی يوه ورځ زه دخپل کورپربام وختلم نومانبی کريم ﷺ وليدی چې دی ﷺ پردوخښتو دقضاء حاجت لپاره ناست وواودبيت المقدس طرف ته يې مخ ګرځولی وو)اوپه مدينه منوره کې دبيت المقدس طرف ته په مخ ګرځولوسره شادبيت الله طرف کيږي ،احناف ځواب ورکوي چې دحضرت ابوايوب انصارى رضي الله عنه حديث قولی دی اودحضرت ابن عمر رضي الله عنه حديث فعلی دی اوقاعده ده چې چيرته په قولی اوفعلی حديث کې تعارض راشي نوترجيح قولی حديث ته حاصله وي ،همداراز که چيرته دحرمت اواباحت دواړو اړخونه موجودوي نوترجيح به حرمت ته ورکول کيږي.

(۲۱۷)قوله وغلق باب المسجداى ويکره غلق باب المسجد،يعنی دمسجددروازه مقفل کول (بندول) مکروه دی ولې چې داله لمانځه څخه دمنع کونکی سره مشابهت دی ،دځينوحضراتورأيه داده چې که

دمسجدسامان دحفاظت لپاره دلمانځه له وختونوڅخه علاوه په نوروو ختونوکې بنده شي نومکروه نه ده په دې زمانه کې دغلودکثرت په وجه سره همدا قول مفتى به گرځول شوى دى .

(۲۱۸)قوله والوطى فوقه والبول والتخلى اى ويكره الوطئ فوق المسجدوالبول والتخلى ،يعنى دمسجدپربام باندې صحبت كول ياپاخانه كول ،يابولې كول مكروه دي ولى چې دمسجدبام هم دمسجدپه حكم كې دى همدا وجه ده چې كه امام كښته وي لوړپربام دده اقتداء كول صحيح ده اودمعتكف اعتكاف په لوړختلوسره نه باطليږي.

(۲۱۹)قوله لافوق بيت الخ اى لايكره الوطئ والبول والتخلى فوق بيت فيه مسجد،يعنى دكورد مسجدپربام باندې صحبت وغيره كول مكروه نه دي دكورله مسجدڅخه مرادهغه ځاى دى كوم چې دلمانځه لپاره متعين شوى وي ولى چې دادباقاعده مسجدپه حكم كې نه دى ،همدا وجه ده چې دي ته دجنب اوحائضې دخول جائزدى .

(۲۲۰)قوله ولانقشه بالجص وماء الذهب اى لايكره نقش المسجدبالجص وماء الذهب ،يعنى مسجدپه چونه اودسرورزروپه اوبو سره منقش كول مكروه نه دى ،په دې قسم ويناكې چې مكروه نه دى ،اشاره ده چې په دې كې ثواب نشته﴿لقوله ﷺ من اشراط الساعة تزين المساجد﴾ (دقيامت له علاماتوڅخه دمسجدونومزين كول دي)،ځينې حضرات دامكروه بولې اودځينورأيه داده چې دادثواب كاردى ولى چې په دې كې دمساجدوتعظيم دى په دې شرط چې څوك په خپل مال سره داكاروكړي اوكه دوقف په مال سره چونه وغيره وكړي نومتولى به دد ي ضامن وي .

بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ

داباب دوترواونوافلوپه بيان كې دى

كله چې مصنف رحمه الله له فرائضواودهغو له متعلقاتواوله آدابوڅخه فارغ شو ،نودنوافلو په بيان يې شروع وكړه، نوافل ئې په دې وجه له فرضووروسته ذكر كړل چې نوافل دفرضو له متمماتواومكملاتو څخه دي اودمتمم درجه وروسته وي، او بياد نفلو اووترو په يوه باب كې د يوځاى كولو وجه داده چې وتر دصاحبينو او امام شافعي رحمه الله په نزد دنفلو په څير دي.

(۲۲)الوتر واجب (۲۲۱)وهو ثلاث ركعات بتسليمة (۲۲۲)وقنت في ثالثه قبل الركوع أبدا بعد أن كبر (۲۲۳)وقرأ في كل ركعة منه فاتحة الكتاب وسورة(۲۲۵)ولايقنت لغيره(۲۲۶)ويتبع المؤتم قانت الوتر لا الفجر

ترجمه :وترواجب دي ،اوهغه دري ركعته دي په يوه سلام سره ،اودعاء قنوت دي وايې په دريم ركعت كې هميشه له ركوع څخه وړاندې له تكبيرويلوڅخه وروسته ،اووايي دې دوترو په هر ركعت كې فاتحه اوسورت، اودعاء قنوت دې نه وايې له وتروڅخه په ماسوا كې ،اواتباع دې كوي مقتدى دقنوت وتردويونكې نه دقنوت فجردويونكې .

تشريح :(۲۲۱)دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزدوترواجب دي ولى چې له حضرت عبدالله بن بريده رضي الله عنه څخه منقول دي چې نبى كريم ﷺ دري ځله ارشادوفرمايو﴿ الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا ﴾(وترحق دي څوك چې

وتراداء نه كړي هغه له موږ څخه نه دی).همدراز دحضرت ابوسعيدخدري ﷺ حديث دی ﴿انه ﷺ قال اوتروا الليل ان تصبحوا﴾ (يعنی نبی كريم ﷺ وفرمايل وتراداء كړئ له سهار څخه وړاندي)اوتروا،امردی اوامرد وجوب لپاره دی همدا وجه ده چې بالاتفاق دوتروقضاء واجب ده.

ف:دصاحبينو رحمهما الله تعالى په نزد سنت دي ولی چې په وتروكې دسنت والی اثارشته هغه داچې منكريې كافرنه دی ، اودوئ لپاره اذان او اقامت نه كيږي ،اوله حضرت ابن عمر ﷺ څخه په سورلی باندي دوترواداء كول ثابت دي حال داچې فرائض پرسورلی بغيرله عذر څخه جائزنه دي .مگرصاحبينو ته خواب وركړل شوی دی چې دوترومنكرځكه نه كافركيږي چې دوتروثبوت په سنت غيرمتواتره سره دی،اودوئ لره اذان او اقامت په دي وجه نه كيږي چې وتردماخستن دلمانځه په وخت كې اداء كيږي نودوئ لپاره دماخستن په اذان او اقامت باندي اكتفاء شوي ده .اوله حضرت ابن عمر ﷺ څخه داهم ثابت دي چې دوترولپاره له سورلی څخه كښته كيدواوفرمايل يې چې نبی كريم ﷺ به همداشان كول. نودحضرت ابن عمر ﷺ په روايتونوكې تعارض دی اوقاعده ده چې اذاتعارض تساقطا.

ف:دوترو په باره كې له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه دري روايتونه منقول دي ./نمبر١.وترواجب دي داددء اخيري قول دی اوهمدااصح دی ./نمبر٢.وترسنت دي داقول صاحبينو رحمهما الله تعالى اختياركړی دی. /نمبر٣.وترفرض دي داامام زفر رحمه الله اختياركړی دی ،بياپه دي دريواقوالوكې په دي دول تطبيق شوي دی،چې وترعملافرض دي اواعتقاداواجب دي اوثبوتاسنت دي .پردي داځمه واتفاق دی چې دوترو منكركافرنه دی ،همداراز وتربغيرله نيت څخه صحيح نه دي بزموږپه نزدوترپه ناسته سره ياپه سورلی دسپرتياپه حالت كې اداء كول صحيح نه دي.

(٢٢٢)بيادا حنافو په نزددوتردري ركعتونه په يوه سلام واجب دي ولی چې دحضرت عائشه ﷺ حديث دی چې ﴿ان النبی ﷺ كان يوتربثلاث ركعات﴾ (يعنی نبی كريم ﷺ به وتردري ركعته اداء كول)همداشان له حضرت ابن عباس ﷺ اوله حضرت ابن مسعود ﷺ څخه هم مروی ده ،همداراز له ابن كعب ﷺ څخه مروی ده چې نبی كريم ﷺ به دري ركعته وتراداء كول په اول ركعت كې به يې سبح اسم ربك الاعلى،اوپه دوهم ركعت كې قل ياايها الكافرون اوپه دريم ركعت كې قل هوالله احدوايو اوله ركوع څخه وړاندي به يې دعاء قنوت وايو.

(٢٢٣)بيازموږ په نزدبه په دريم ركعت كې لەركوع څخه وړاندي دعاء قنوت وايي اودامام شافعي رحمه الله په نزدبه يې له ركوع څخه وروسته وايي ،زموږدليل ماروی ان ابن مسعود ﷺ بعث امەلتـرقب وتررسول ﷺ فذكرت له انه اوتربثلاث ركعات ......وقنت قبل الركوع (يعنی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ مينځې ده ﷺ نه دنبی كريم ﷺ دوترو په باره كې وويل چې نبی كريم ﷺ وتردري ركعته اداء كړل ....اوله ركوع څخه وړاندي يې قنوت ووايو).

ف:زموږپه نزدپوره كال دعاء قنوت ويل واجب دي اودامام شافعي رحمه الله په نزدصرف درمضان په نصف اخيركې دعاء قنوت وايي .زموږدليل ﴿قوله ﷺ للحسن حين علمه دعاء القنوت اجعل هذافی وترك﴾ (يعنی نبی كريم

ﷺ حسن ابن علی ﷺ ته چې کله دعاء قنوت وروښود نووي فرمايل چې داپه خپلووترو کې وايه) په دې کې درمضان اوغيررمضان هيڅ تفريق نشته لهذاپوره کال دعاء قنوت ويل ثابت شو.

ف:په دعاء قنوت کې دائمه واختلاف دی چې په لوړاوازسره يې وايې اوکه سوکه،دځينوحضراتوپه نزدکه امام وي نوپه لوړاوازسره دې وايې ولی چې دعاء قنوت له قرأة سره مشابه دی حال داچې نورځينې حضرات فرمايې چې سوکه دې وايې ولی چې دادعاء ده اوپه دعاء کې سنت اخفاء ده هذاقول اصح دی كمافی شرح التنوير:(مخافتاعلی الاصح مطلقا)ولوامامالحديث خيرالدعاءالخفی(ردالمحتار:۱/۴۹۳)

اووتراداء کونکی چې کله په دريم رکعت کې ددعاء قنوت دويلواراده وکړي نوتکبيردې ووايې اوخپل دواړه لاسونه دې ترغوږوپورې لوړکړي بيادې دعاء قنوت ووايې ﴿لقوله ﷺ لاترفع الايدی الافی سبع مواطن وذکرمنهاالقنوت ﴾ (نه دې پورته کيږي لاسونه مګرپه اووځايونوکې اوله هغوڅخه يې قنوت ذکرکړ)اوپه لمانځه کې دننه دلاسونوپورته کول بغيرله تکبيرڅخه مشروع نه ده نوله دې څخه دتکبيرويل هم ثابت شو.

ف:دوترپه اخيري رکعت کومه يوه دعاء چې هم وايې جائزده مګرسنت دادی چې مشهوره دعاء ووايې دکومې چې الفاظ دادي اللهم انانستعينک ونستهديک ونستغفرک ونتوب اليک ونؤمن بک ونتوکل عليک ونثنی عليک الخير کله ونشکرک ولانکفرک ونخلع ونترک من يفجرک اللهم اياک نعبد ولک نصلی ونسجدواليک نسعی ونحفدونرجورحمتک ونخشی عذابک ان عذابک بالکفارملحق- کچيرته ديوچاداغه دعاء ياده نه وی بيادی دغه دعاء ربنا آتنافی الدنياحسنة وفی الآخرة حسنةوقناعذاب النار- وايي كمافی الشامية:ومن لايحسن القنوت يقول ربنا آتنافی الدنياحسنة الآيه وقال ابويوسف رحمه الله يقول اللهم اغفرلی يکررهاثلاثا:(ردالمحتار:۱/۴۹۳)

(۲۲۴)داحنافوپه نزدله وترڅخه علاوه په کوم بل لمانځه کې دعاء قنوت نشته .دامام شافعی رحمه الله په نزددفجرپه لمانځه کې دعاء قنوت لوستل مسنون دي ﴿لحديث انس ﷺ کان النبی ﷺ يقنت فی صلوة الفجر الی ان فارق الدنيا﴾(يعنی نبی ﷺ دسهارپه لمانځه کی قنوت وايوآن تردی وخته پوری چې له دنيا څخه رخصت شو،داحنافو رحمهم الله دليل دحضرت ابن مسعود ﷺ حديث دی ﴿ان النبی ﷺ قنت فی صلوة الفجرشهرايدعواعلی رعل وذکوان وعصية ....لم ترکه ﴾ (يعنی نبی ﷺ يوه مياشت دعاءقنوت دسهارپه لمانځه کی ووايو دعرب پرقبيلورعل،ذکوان،عصية ،باندی ښيراوي کولې بيايې پرېښودی).

(۲۲۵)يعنی دوترپه هررکعت کې سورة فاتحه اودکوم بل سورة ويل واجب دي ،دصاحبينواو امام شافعی رحمه الله په نزدخوپه دې وجه چې ددوئ په نزدوترسنت دي اودسنوپه هررکعت کې قرأة واجب دی .دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدکه څه هم وترواجب دي ليکن څرنګه چې دوترووجوب په سنت سره ثابت دی اوسنت يقين لره مفيدنه وي په دې وجه په وجوب وتروکې يوقسم شبه پيداشوه نوامام ابوحنيفه رحمه الله احتياطاپه هررکعت کې قرأة واجب وګرځاوو كمافی الدرالمختار:لکنه يقرافی کل رکعت منه فاتحة الکتاب وسورة احتياطاقال ابن عابدين رحمه الله (قوله احتياطا) ای لان الواجب تردد بين السنة والفرض فبالنظرالی الاول تجب القراة فی جميعه وبالنظرالی الثانی لاتجب احتياطا(ردالمحتار:۱/۴۹۲)

(۲۲۶)قوله لاالفجر ای لايتبع المؤتم الامام القانت فی الفجر ،داحنافوپه نزدڅرنګه چې له وترڅخه ماسواپه کوم بل لمانځه کې دعاء قنوت نشته لهذادوترپه دعاء قنوت کې خوبه مقتدی دامام اتباع کوي ليکن که

امام په فجرکې دعاء قنوت وايونو مقتدی به اتباع نه کوي ولی چې داحنافو په نزد په فجرکې دعاء قنوت ثابت نه دی.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد مطلقا په فجرکې دعاء قنوت ويل مسنون دي نو که کوم حنفي په شافعي پسې دسهارلمونځ اداء کوي نو د فجر په لمانځه کې د دعاء قنوت ويلو پروخت د ظاهرروايت مطابق به حنفي پټه خوله درېږي او لاسونه به ايله پرېږدي كمالي شرح العويز (لاالفجر) لانه منسوخ (بل ساكتاعلى الاظهر) مرسلا يديه (درمختارعلى هامش ردالمحتار: ١/٣٩٥)

ف:داحنافو په نزد که خدانخواسته پرامت کوم لوی مصيبت راغی نو د فجر په لمانځه کې دعاء قنوت لوستل صحيح دي ولی چې د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په روايت سره د مصيبت پروخت د فجر په لمانځه کې دعاء قنوت ثابت دی کوم ته چې قنوت نازله ويل کيږي چې د دغه الفاظ دادي اللهم اهدنا فيمن هديت وعافنا فيمن عافيت وتولنا فيمن توليت، وبارک لنا فيما اعطيت، وقنا شر ما قضيت، فانک تقضي ولا يقضى عليک وانه لايذل من واليت ولا يعز من عاديت، تبارکت ربنا وتعاليت ولا منجا منک الا اليک، نستغفرک ونتوب اليک، وصلى الله على النبي واله وسلم اللهم اغفرلنا وللمؤمنين والمؤمنات والمسلمين والمسلمات، وألف بين قلوبهم، واصلح ذات بينهم وانصرهم على عدوک وعدوهم اللهم العن الكفرة الذين يصدون عن سبيلک ويكذبون رسلک، ويقاتلون اولياءک، اللهم خالف بين كلمتهم، وزلزل اقدامهم، وانزل بهم باسک الذى لاترده عن القوم المجرمين.

(٢٢٧)وَالسُّنَّةُ قَبْلَ الْفَجْرِ وَبَعْدَ الظُّهْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ رَكْعَتَانِ وَقَبْلَ الظُّهْرِ وَالْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا أَرْبَعٌ وَنُدِبَ الْأَرْبَعُ قَبْلَ الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ وَبَعْدَهُ وَالسِّتُّ بَعْدَ الْمَغْرِبِ

توجمه:اوسنت له فجرڅخه وړاندي او له ظهر،مغرب او عشاء څخه وروسته دوه رکعته دي او له ظهر او جمعې څخه وړاندي او له جمعې څخه وروسته څلور رکعتونه دي او مستحب دي څلور رکعتونه له عصر او عشاء څخه وړاندي او له عشاء څخه وروسته او شپږ رکعتونه له مغرب څخه وروسته.

تشريح:(٢٢٧)يعني سنت لمونځونه دادي چې له فجرڅخه وړاندي،ظهر،مغرب او له عشاء څخه وروسته دوه رکعتونه دي،دظهراوجمعې له لمانځه څخه وړاندي څلورڅلوررکعتونه دي او دجمعې له لمانځه څخه وروسته هم څلوررکعتونه دي،دعصراوعشاء له لمانځه څخه وړاندي څلوررکعته مندوب دي او له عشاء څخه وروسته څلوررکعته دي او له مغرب څخه وروسته شپږرکعتونه دي دليل دنبی کريم صلى الله عليه وسلم قول دی﴿عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من ثابر (واظب) على اثنتي عشرة ركعة من السنة بنى الله له بيتا في الجنة اربع ركعات قبل الظهر وركعتين بعدها وركعتين بعدالمغرب وركعتين بعدالعشاء وركعتين بعدالفجر﴾ (يعنی چا چی په شپه اوورځ کی پردولس١٢ رکعتونو باندی هميشه توب وکړی الله تعالى به دغه سړی ته په جنت کی کور جوړکړي څلوررکعته له ماښپن څخه وړاندي او دوه٢رکعته له ماښپين څخه وروسته او دوه٢رکعته له ماښام څخه وروسته او دوه٢رکعته له ماخستن څخه وروسته او دوه٢ رکعته دسهار له لمانځه څخه وړاندي).

په دي حديث کې له عصرڅخه وړاندي دڅلورورکعتوذکرنشته په دي وجه امام محمد رحمه الله په مبسوط کې داڅلوررکعته مستحب گرځولي دي او اختيارېې ورکړی دی چې که له عصرڅخه وړاندي څلور رکعته اداء کوي او که دوه رکعته اداء کوي ولی چې له عصر څخه وړاندي په تعدادرکعات کې اثار مختلف دي په سنن ابي داؤدکې دي ﴿رحم الله امرا صلى قبل العصر اربعا﴾ (الله تعالى دي رحم وکړي پرهغه کس باندي کوم

چې له عصر څخه وړاندې څلور رکعته اداء کړي)اوپه ابوداؤدکې دي ﴿كان ﷺ يصلى قبل العصر ركعتين﴾ (چې نبی کریم ﷺ له عصر څخه وړاندې دوه رکعته اداء کول)، همدارازپه حدیث شریف کې له عشاء څخه وړاندې دڅلوررکعتونو ذکرهم نشته لهذاداڅلوررکعته مستحب دي ،همدارازله نبی کریم ﷺ څخه پردې مواظبت ثابت نه دی،اوپه دې حدیث کې له عشاء څخه وروسته ددوو رکعتو ذکردی حال داچې له حضرت ابن عمر ﷺ څخه مروی ده کوم کس چې له عشاء څخه وروسته څلور رکعته اداء کړي هغه ته به په ليلة القدر کې دڅلوروررکعتوداداء کولوپه اندازه ثواب ورکول کیږي ، نوداختلاف احادیثوپه وجه امام محمد رحمه الله اختیارورکړی دی چې که یې خوښه وي نوله عشاء څخه وروسته دې څلوررکعته اداء کړي اوکه یې خوښه وي نودوه رکعته دې اداء کړي ،له مغرب څخه وروسته دشپږوررکعتوپه باره کې له حضرت ابن عمر ﷺ څخه مروی ده چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ﴿من صلى بعد المغرب ست ركعات كتب من الاوابين﴾(یعنی کوم کس چې له مغرب څخه وروسته شپږرکعته لمونځ اداء کړي هغه به داوابینوپه فهرست کې ولیکل شي).

له جمعې څخه وړاندې دڅلورسنتونوپه باره کې دحضرت ابن عباس ﷺ حدیث دی ﴿قال كان رسول الله ﷺ يركع من قبل الجمعة اربعا﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ به له جمعې څخه وړاندې څلوررکعته اداء کول)، اوله جمعې څخه وروسته په سنتوکې دائمه احنافواختلاف دی دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدله جمعې څخه وروسته څلوررکعته سنت دي دامام ابویوسف رحمه الله په نزدشپږرکعته سنت دي ،دامام صاحب دلیل دنبی کریم ﷺ ارشاددی ﴿اذاصلى احدكم الجمعة فليصل بعدهااربعا﴾ (کله چې له تاسې څخه څوک دجمعې لمونځ اداء کړي نوله دې څخه وروسته دې څلوررکعته اداء کړي)،دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دصحابه کرامو ﷺ اثاردي چنانچه مروی ده چې حضرت علی ،حضرت ابن عمر،اوحضرت ابوموسی اشعری ﷺ به له جمعې څخه وروسته شپږرکعته اداء کول .

ف:علامه ابراهیم حلبی رحمه الله دمنية المصلی په شرح کبیری فصل فی النوافل کې دامام ابویوسف رحمه الله پرقول فتوی ورکړې ده ولی چې دامام ابویوسف رحمه الله قول جامع دی دهغه په اختیارولوسره دڅلورو اودوورکعتو والاپه ټولورواياتو کې تطبيق کیږي .

ف:بیاله جمعې څخه وروسته دشپږرکعتوپه ترتیب کې دمشائخ اختلاف دی دځینورأیه داده چې اول څلوررکعته بیادوه رکعته اداء کړي حال داچې دعلامه انورشاکشمیری رحمه الله رأیه داده چې اول دې دوه رکعته اوبیادې څلور رکعته اداء کړي كمافي العرف الشذي:وفي الست طريقان والمختار عندي ان يأتي بالركعتين قبل الاربع لعمل ابن عمر ﷺ في سنن ابي داؤد(العرف الشذي: ۱/ ۲۳۰)

ف:په سنتوکې ترټولوډیرمؤکددفجرسنت دي ولی چې له حضرت عائشه ﷺ څخه مروی ده ﴿قالت قال رسول الله ﷺ ركعتاالفجر خير من الدنياومافيها﴾ (دفجردوه رکعته له دنیااومافیهاڅخه بهتردي)،بیاپه باقي سنتوکې دعلماؤاختلاف دی علامه حلوانی رحمه الله فرمایي چې دمغرب دوه رکعته په باقی سنتوکې ترټولومؤکددي ولی چې نبی کریم ﷺ هغه نه په سفراونه په حضرکې پریښې دي ،بیادظهروروستنی دوه رکعته مؤکددي ولی چې له ظهر څخه وروسته دوه رکعته متفق علیهادي ،بیاله عشاء وروسته دوه رکعته بیاله ظهرڅخه وړاندې څلوررکعته بیاله عصرڅخه وړاندې څلوررکعته اوبیاله عشاء څخه وړاندې دڅلوروررکعتودرجه ده

،دځينوراًيه داده چې له سنت فجرڅخه وروسته دظهراومغرب سنتونه سره برابردي اوځينې وايي چې له ظهرڅخه وړاندي څلوررکعته ترټولوډير مؤكددي كمافي الشامية : ثم اختلف في الافضل بعد ركعتين الفجر قال الحلواني ركعتا المغرب فانه ﷺ لم يدعهما سفراً ولا حضراً ثم التي بعد الظهر لانها سنة متفق عليها بخلاف التي قبلها لانها قيل هي للفصل بين الاذان والاقامة ثم التي بعد العشاء ثم التي قبل الظهر ثم التي قبل العصر ثم التي قبل العشاء وقيل التي بعد العشاء وقبل الظهر وبعده وبعد المغرب سواء وقيل التي قبل الظهر اكدوصححه الحسن وقداحسن لان نقل المواظبة الصريحة عليها اقوى من نقل مواظبة ﷺ على غيرها من ركعتي الفجر (ردالمحتار: ١/٤٩٩، كذافي شرح منية المصلي:٣٦٨)

(٢٢٨) وَكُرِهَ الزِّيَادَةُ عَلَى أَرْبَعٍ بِتَسْلِيمَةٍ فِي نَفْلِ النَّهَارِ (٢٢٩) وَعَلَى ثَمَانٍ لَيْلًا (٢٣٠) وَالْأَفْضَلُ فِيهِمَا رُبَاعٌ (٢٣١) وَطُولُ الْقِيَامِ أَحَبُّ مِنْ كَثْرَةِ السُّجُودِ

ترجمه :اومكروه ده پرڅلوررکعتوزيادت كول په يوه سلام سره دورځې په نفل لمانځه کې ،اوپه اته ركعته باندي دشپې په نفل لمانځه کې ،اوپه دواړوکې افضل څلورڅلوررکعته دي ،اوطويل قيام بهتره ده ترزياتوسجدو.

تشريح :کله چې مصنف ﷫ دسننوله بيان څخه فارغ شونودنوافلوپه بيان يې شروع وکړه ،علماؤ داباحت اوفضليت په اعتبارسره دشپې اوورځې په نفلوکې اختلاف کړی دی ،(٢٢٨) دامام ابوحنيفه ﷫ په نزددورځې په نفل لمانځه کې په يوه سلام سره دوه رکعته ياڅلوررکعته اداء کول مباح دي ،له دې څخه زيات مکروه دي ولی چې له دې څخه په زياتوکې نص نه دی واردشوی نوکه زيات مکروه نه وای نودبيان جوازلپاره به نبی کريم ﷺ يويادوه ځله زيات فرمايلي وای .

(٢٢٩)قوله وعلى ثمان ليلاای وكره الزيادة ركعات ليلا يعني په شپه کې په يوه سلام سره اته رکعته اداء کول بلاكراهته جائزدي له اتوڅخه زائدمکروه دي ولی چې نبی کريم ﷺ په شپه کې په يوه سلام سره له اتورکعتوڅخه زيادت نه دی فرمايلي نوکه مکروه نه وای نودبيان جوازلپاره به نبی کريم ﷺ يويادوه ځله زيات فرمايلي وای .

ف،صاحبين په تراويح په قياسولوسره فرمايي چې دشپې په نفلوکې افضل داده چې دوه دوه رکعته اداء شي، اودورځې په نفلوکې دظهرپه سنتوپه قياسولوسره فرمايي چې افضل دادی چې څلوررکعته اداء شي ،امام صاحب فرمايي چې څلوررکعته په يوه تحريمه سره په اداء کولوکې دوام اومشقت زيات دي لهذاپه دې کې به فضليت هم زيات وي لقوله ﷺ اجرک على قدرنصبک (ستالپاره ثواب ستادمشقت په اندازه وي)، صاحبينوته ځواب ورکوي چې تراويح ځرنګه چې په جماعت سره اداء کيږي په دې وجه په تراويحوکې دجهت تيسيررعايت کيږي اوتيسيرپه دوورکعتوکې دی،دابايد يادوساتل شي چې دصاحبينواوامام صاحب اختلاف په افضليت کې دی په جوازکې نه دی.

(٢٣٠)دامام ابوحنيفه ﷫ په نزدپه شپه اوروځ اودواړوکې څلوررکعته افضل دي ولی چې نبی کريم ﷺ به له عشاء څخه وروسته په يوه سلام سره څلوررکعته اداء کول کوم چې حضرت عائشه ﵂ روايت کړی دی او دڅاښت لمونځ به يې هم په يوه سلام سره څلوررکعته اداء کاوو ،دامام ابوحنيفه ﷫ قول راجح

دی كما في الشامية: ولو رجحت الاربع بزيادة منفصلة لما انها اكثر مشقة على النفس وقد قال ﷺ انما اجرک على قدر نصبک (ردالمحتار: ١ /٥٠٠)

(۲۳۱)اوپه لمانځه کې طویل قیام کول ترکثرت سجود افضل ده ﴿لقوله ﷺ افضل الصلوة طول القيام﴾ (افضل لمونځ هغه دی چې په هغه کې قیام طویل وي)،همدارازپه طویل قیام کې قرأة زیات وي اوپه کثرت سجود کې تسبیحات زیات وي اوترتسبیح قرأة افضل دی ،نوپه طویل قرأة کولوسره دوه رکعته اداء کول په مختصرقرأة کولوسره ترڅلورركعتواداء كولو افضل دی مګردانفلی اوتنها(يواځي) دلمانځه داداء کولوحکم دی دجماعت حکم دانه دی ولی چې په جماعت کې دکمزورو اومریضانو رعایت کیږي .

(۲۳۲)وَالْقِرَاءَةُفَرْضٌ فِي رَكْعَتَيِ الْفَرْضِ (۲۳۳)وَكُلِّ النَّفْلِ وَالْوِتْرِ (۲۳۴)وَلَزِمَ النَّفْلُ بِالشُّرُوعِ وَلَوْ عِنْدَ الْغُرُوبِ وَالطُّلُوعِ (۲۳۵)وَقَضَى رَكْعَتَيْنِ لَوْ نَوَى أَرْبَعًا وَأَفْسَدَهُ بَعْدَ الْقُعُودِ الْأَوَّلِ (۲۳۶)اَوْ قَبْلَهُ

ترجمه :اوقرأة فرض دی دفرضوپه دوورکعتو کې ،اودنفل اووترو په ټولورکعتو کې ،اولازميږي نفل په شروع کولوسره که څه هم دغروب شمس یاطلوع شمس په وخت کې وي ،اوددوورکعتو قضاء به راوړي که يې دڅلورونيت کړی وو اوهغه يې فاسد کړي وو له قعود اول څخه وروسته ،یاله دې څخه وړاندې .

تشریح :(۲۳۲)یعنی داحنافوپه نزدفرضوپه اولنیودوورکعتو کې قرأة فرض دی ولی چې دباری تعالی ارشاددی﴿فاقرؤا ماتيسر من القرآن﴾(له قرآن څخه چې څومره قدراسان وي واياست يې)وجه استدلال داسې ده چې اقرؤادامرصیغه ده اومردتکرارتقاضانه کوي نوپه عبارة النص سره په یوه رکعت کې قرأة ثابت شواوڅرنګه چې دوهم رکعت من کل وجه له رکعت اول سره مشابه دی په دې وجه په دلالة النص سره په رکعت ثانی کې قرأة واجب شو.

ف:په اخیرنیودوورکعتو کې لمونځ کونکی لره اختیاردی که يې خوښه شي نوسورة فاتحه دې ولولي یادې دې تسبیحات ولولي یادې ددریوتسبیحاتوپه قدرپټه خوله ودريږي ،همداله امام ابوحنيفه رحمه الله څخه مروی دی اوهمداله حضرت علی ﷺ اوحضرت ابن مسعود ﷺ څخه مروی ده مګرفاتحه ویل افضل دی ولی چې نبی کریم ﷺ له کله کله ترک سره پردې مداومت فرمایلی دی ،اوشفع ثانی له شفع اول څخه په دې اعتبارسره مختلفه ده چې شفع ثانی دسفرپه وجه سره ساقطيږي لهذادشفع ثاني قیاس په شفع اول باندې نه شي کیدی.

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزددفرضوپه ټولورکعتو کې قرأة فرض دی دده دلیل دنبی کریم ﷺ ارشاد ﴿لاصلوة الابفاتحة الكتاب﴾(یعنی بلاقرأة لمونځ نشته)دی اوهررکعت لمونځ دی لهذاپه هررکعت کې قرأة فرض دی ،احناف ځواب ورکوي چې په حدیث شریف کې له لفظ صلوة څخه صلوة کامله مراددی اوپه عرف کې دصلوة کامله اطلاق پردوورکعتو کيږي نوله حدیث څخه په دوورکعتو کې دقرأة فرضیت ثابتيږي نه په هررکعت کې .

(۲۳۳)قوله وكل النفل والوتراي القراءة فرض في كل النفل والوتر ،یعنی قرأة دنفلواووتروپه ټولورکعتو کې واجب دی،دنفلوپه ټولورکعتو کې قرأة په دې وجه واجب ده چې دنفلوهردوه رکعته علیحده لمونځ دی اوددریم رکعت لپاره ولاړیدل دنوي تحریمې په څیرده لهذاپه اولنۍ تحریمې سره صرف دوه رکعته

واجبیږي .دعلماء احنافو مشهورقول همدا دی همدا وجه ده چې مشائخو ویلې دي چې په دریم رکعت کې به سبحانک اللهم الخ وایې .اوپه وتروکې احتیاطاً دنفلوپه شان په هررکعت کې قرأة واجب گرځول شوی دی ولې چې دوتروثبوت په سنت سره دی او سنت مفید یقین نه وي نوپه وجوب وتروکې دیو قسم شبه په وجه سره دنفلوپه شان دوتروپه هر رکعت کې قرأة واجب وگرځول شو .

(۲۳۴)داحنافوپه نزد نفل لمونځ په شروع کولوسره لازمیږي که څه هم دغروب پروخت یادطلوع شمس پروخت وي لهذا که له شروع کولوڅخه وروسته نفل فاسد کړل شول نو دهغه قضاء واجبیږي .دامام شافعي رحمه الله په نزد قضاء نه واجبیږي ولی چې نفل اداء کونکی متبرع دی او پرمتبرع کونکی باندې لزوم نه وي .داحنافودلیل دادی چې له شروع څخه وروسته چې دنفلوکومه حصه اداء شوې ده هغه قربت او عبادت شواوکوم شئ چې قربت او عبادت واقع شي دهغه پوره کول لازم دی ترڅوعمل له باطلولوڅخه محفوظ وساتل شي ولی چې ابطال عمل (عمل باطلول) حرام دي لقوله تعالی «ولاتبطلوا اعمالکم» (یعنی خپل اعمال مه باطلوئ)لهذا که نفل عمل په منځ کې فاسد شو نو دهغه اعاده واجب ده .

(۲۳۵)یعنی که یې دڅلوررکعتوپه نیت سره نفل شروع کړل اوداولنیو دوورکعتوپه اخیرکې دتشهدپه اندازه کېنستی بیایې وروستنی دوه رکعته فاسد کړل نو اوس دي ددوورکعتو قضاء رواړي ولی چې هردوه رکعته جلاجلا لمونځ دی نواول دوه رکعته خوپه دتشهدپه اندازه په ناسته سره مکمل شول اودریم رکعت ته ولاړیدل دنوي تحریمې په درجه کې ده لهذادی دوروستنی دوورکعتولازمونکی شول لهذا دهغو د فاسدولوپه صورت کې به دهغو قضاء واجب وي .

(۲۳۶)قوله اوقبله ای اوافسدالاربع قبل القعود الاول قضی رکعتین فقط یعنی که یې دتشهدپه اندازه له ناستې څخه وړاندې اولنی دوه رکعته فاسد کړل نوصرف داولنیو دوورکعتو قضاء به راوړي په دې وجه چې ددوئ په اخیرکې بقدرتشهدناسته فرض ده نودترک فرض په وجه سره به داولنیو دوورکعتواعاده کوي اوپه اخرنیو دوورکعتویې څرنگه چې شروع نه ده کړي لهذا دهغواعاده هم لازمه نه ده .

(۲۳۷)اولم‌يقرأ فیهن شیئا (۲۳۸)اوقرأ فی الأولیین (۲۳۹)اوالأخریین (۲۴۰)اوالأولیین وإحدی الأخریین (۲۴۱)اوالأخریین أو إحدی الأولیین (۲۴۲)اوإحدی الأخریین (۲۴۳)وأربعا لوقرأ فی إحدی الأولیین وإحدی الأخریین (۲۴۵)ولایصلی بعد صلاۃ مثلها

ترجمه:یایې په یوه رکعت کې هم قرأة نه وي کړی ،یایې قرأة ویلی وي په اولنیو دوورکعتوکې .یاپه اخیري دووکې .یایې قرأة وکړپه اولنیو دوو اوله اخیرنیو دووڅخه په یوه کې .یاپه اخیرنیو دووکې اوله اولنیو دووڅخه په یوه کې .یایې صرف په اخیرنیو دووکې په یوه کې قرأة وکړ .اوڅلوررکعته قضاء به راوړي که یې قرأة وکړله اولنیو دوو څخه په یوه کې ،یاله اولنیو دوڅخه په یوه کې اوله اخیرنیو دوو څخه په یوه کې ،اوله لمانځه څخه وروسته دي دده په شان لمونځ نه اداء کیږي .

تشریح :څرنگه چې دنفلوپه هررکعت کې قرأة فرض دی اوپه ترک فرض سره لمونځ فاسدیږي اوس په څلوررکعتی لمانځه کې دترک قرأة اته صورتونه جوړیږي په دي باره کې له ائمه ثلاثه څخه دهریوه جلاجلا اصول دي موږدلته صرف دامام ابوحنیفه رحمه الله داصولو مطابق حکم بیان کړی دی .دامام ابوحنیفه اصول دادي چې که یې دشفع اول په یوه رکعت کې قرأة پرېښودنوتحریمه نه باطلیږي لهذا په شفع ثاني کې

شروع صحیح ده نو بیا که یې دوهمه شفع ،هم دترک قرأة په وجه سره فاسده کړه نو دڅلور ورکعتونو قضاء به راوړي او که یې داولي شفع په دوورکعتوتوکې قرأة پرېښودی نوپه شفع ثانی کې شروع نه ده صحیح شوي لهذا صرف دشفع اولي قضاء به راوړي .دامام ابویوسف رحمه الله اصول دادي چې که داولنۍ شفع په یوه رکعت کې قرأة پرېږدي یاپه دواړوکې په هیڅ حال کې هم تحریمه نه باطلیږي لهذا په شفع ثانی کې شروع په هرحال صحیح ده نوکه یې دترک قرأة په وجه سره ثانی فاسده کړه نودڅلوروقضاء به راوړي . .اودامام محمد رحمه الله اصول دادي چې داولنۍ شفع په یوه رکعت کې دقرأة په پرېښودلوسره هم تحریمه باطلیږي نوپه شفع ثانی کې شروع صحیح نه ده لهذا په هرحال به ددوورکعتونوقضاء رواړي .

(۲۳۷)قوله اولم یقرأ ای فی الاربع بالکلیة شیئافکذالک یقضی رکعتین .یعنی که یې په څلورو رکعتوکې قرأة پرېښود .نوپه دي صورت کې به دامام صاحب رحمه الله په نزدددوورکعتوقضاء رواړي ولی چې داولنۍ شفع په دواړورکعتوکې یې قرأة پرېښې دی لهذا دهغې قضاء به راوړي اوداولنۍ شفع په دواړورکعتو کې دقرأة دپرېښودلوپه وجه سره دامام صاحب رحمه الله په نزدپه شفع ثانی کې شروع نه ده صحیح شوي لهذادشفع ثانی قضاء لازمه نه ده .

(۲۳۸)قوله اوقرا فی الاولیین ای قرا فی الرکعتین الاولیین لاغیر .یعنی که یې صرف په شفعه اوله کې قرأة ووایو اوپه دوهمه شفعه کې یې قرأة پرېښود .په دي صورت کې به هم صرف ددوهمی شفعه قضأ راوړي ولی چې ددوهمې شفع بناء پراوله صحیح ده اوقرأة یې هم صرف په شفع ثانی کې پرېښې دی لهذا صرف دهغې قضاء به راوړي .

(۲۳۹)قوله اوالاخریین ای قرا فی الرکعتین الاخریین لاغیر .یعنی که یې صرف په شفع ثانی کې قرأة وکړاوپه شفع اوله کې یې پرېښود .په دي صورت کې به دترک قرأة په وجه سره صرف دشفع اولي قضاء راوړي څرنګه چې په شفع اولي کې د قرأة دپرېښودلوپه وجه سره دامام صاحب په نزدپه شفع ثانی کې شروع نه ده صحیح شوي لهذادشفع ثانی قضاء هم نه شته .

(۲۴۰)اوکه یې داولنۍ شفع په دواړورکعتوکې قرأة وکړاودشفع ثانی صرف په یوه رکعت کې یې قرأم وکړ.نوپه دي صورت کې شفع اوله صحیح ده اوشفع ثانی فاسده ده ولی چې قرأة یې په یوه رکعت کې پرېښې دی لهذا صرف دشفع ثانی قضاء به راوړي .

(۲۴۱)قوله اوالاخریین واحدالاولیین ای قرافی الرکعتین الاخریین واحدی الاولیین .یعنی که یې دشفع ثانی په دواړورکعتونو کې قرأة وکړاوداولي شفع په یوه رکعت کې یې قرأة وکړ.نوپه دي صورت کې به صرف دشفع اولی قضاء رواړي ولی چې ددي په یوه رکعت کې یې قرأة پرېښې دی اوشفع ثانی تامه ده .

(۱۴۲)قوله اواحدی الاخریین ای اوقرا فی احدی الاخریین فقط .یعنی که یې صرف دشفع ثانی په کوم یوه رکعت کې قرأة کړی وي .نوپه دي صورت کې په اولنۍ شفع کې دقرأة پرېښودلوپه وجه سره صرف دشفع اولي قضاء لازمه ده په شفع ثانی کې څرنګه چې شروع نه ده صحیح شوي لهذا دهغې قضاء هم نشته .

(۲۴۳)قوله وار بعالو قرا فى احدى الاولين اى ولغى اربعالوقرا فى احدى الاولين لاغير ،يعنى كه يې صرف دشفع اول په يوه ركعت كې قرأة وكړدشفع اول په دوهم ركعت اودشفع ثانى په دواړوركعتونو كې يې قرأة پريښودى،نوپه دې صورت كې به دڅلورو ركعتوقضاء رواړي ولى چې دشفع اول په يوه ركعت كې دقرأة دپريښودلوپه وجه سره به ددې قضاء رواړي اوپه شفع ثانى كې څرنګه چې شروع صحي شوي ده لهذادشفع ثانى په دواړوركعتوكې دقرأة دپريښودلوپه وجه سره به دهغې قضاء هم راوړي.

(۲۴۴)قوله واحدى الاولين واحدى الاخرين اى قضى اربعالوقرا فى احدى الاولين واحدى الاخرين ،يعنى كه يې دهري شفع په يوه ركعت كې قرأة وكړ،نوپه دې صورت كې به هم دڅلورو ركعتوقضاء راوړي ولى چې په شفع ثانى كې هم شروع صحيح شوي ده اودهري شفع په يوه ركعت كې دقرأة دپريښودلوپه وجه سره به دڅلورو قضاء راوړي.

(۲۴۵)يعنى دفرض لمانځه كولو وروسته دې دهغه په شان لمونځ نه كوي دامضمون ديوه حديث حصه ده اودهغه مطلب دا بيان شوى دى چې دفرض لمانځه له اداء كولووروسته دهغه په ډول دوهم لمونځ نه اداء كوي چې دهغه په دوو اولنيوركعتوكې قرأة وكړي اوپه دوواخرنيوركعتوكې قرأة ونه وايې نودامضمون ددې خبري بيان دى چې دنفلوپه هرركعت كې قرأة ويل فرض دى ،ځينوحضراتو ددې دامطلب بيان كړى دى چې په دې كې په حقيقت كې له تكرارجماعت څخه ممانعت دى ،ځيني وايې چې خلګوبه دفرضوله اداء كولووروسته دزيات ثواب لپاره دوهم ځل بيافرض اداء كول په دې روايت كې له دې عمل څخه ممانعت دى ،دځينو حضراتورأيه داده چې ددې مطلب دادى چې محض دتوهم اووسوسي په اساس دې دفرضو اعاده نه كوي كمافى درالمختار (ولايصلى بعدصلوة)مفروضة(مثلها)فى القرأة اوفى الجماعة او لاتعاد عند توهم الفساد للنهى (ردالمحتار:ج۱ص۵۱۶)

(۲۴۶)قوله ويتنفل قاعدامع القدرة على القيام ابتداء(۲۴۷)وبناء(۲۴۸)وراكبا خارج المصر مومياالى اى جهة توجهت دابته(۲۴۹)وبنى بنزوله(۲۵۰)لابعكسه

ترجمه:اونفل لمونځ په ناسته اداء كولى شي سره له دى چې په ولاړه قادروي ابتداء هم اوبناء هم،اوپه دسپرتيا په حالت كې له ښار څخه دباندي په اشاره كولوسره كوم طرف ته چې يې هم متوجه وي دده سورلى ،اوبناء دې كوي په كښته كيدلوسره ،نه ددې په عكس كې.

تشريح:(۲۴۶)يعنى په ولاړه له قدرت لرلوباوجودپه ناسته باندې نفل لمونځ اداء كول جائزدى ولى چې نبى كريم ﷺ فرمايلي دي﴿صلاة القاعد على النصف من صلاة القائم﴾(په ناسته لمونځ كولو كې دولاړي دلمانځه په نسبت نيم ثواب دى)وجه داستدلال په دې ډول ده چې دنبى كريم ﷺ مرادخويادادى چې دعذرپه وجه سره يې په ناسته اداء كړي يابغيرله عذره اول خونه شي كيدلى ولى چې دعذرپه وجه سره په ناسته دلمانځه اداء كول اوپه ولاړه سره دلمانځه اداء كول دثواب په اعتبارسره برابردي لهذاامتعينه شوه چې بغيرله عذرڅخه په ناسته دلمانځه اداء كول مراددي اوپه حديث شريف كې فرض بالاجماع مرادنه دي ولى چې بلاعذره فرض لمونځ په ناسته اداء كول په اجماع سره جائزنه دي نونفل اداء كول متعين شول لهذابلاعذره ابتداء په ناسته سره نفل اداء كول جائزدي.

(۲۴۷)قوله بناء اى ويتنفل قاعدا مع قدرة القيام بناء ،په ولاړه دقدرت درلودلو سره په ناسته نفل لمونځ اداء كول بناء هم جائزدي يعنى كه چاپه ولاړه سره نفل لمونځ پيل كړ بيابلاعذره كښينستي نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدداهم جائزدى، او دصاحبينوپه نزدجائزنه دى ،دصاحبينودليل دادى چې په ولاړه سره پيل كول دنذرپه شان دقيام لازمول دي لهذااوس كښينستل جائزنه دي ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادى چې قيام په نوافلوكي ركن نه دى لهذادقيام ابتداء ترک كول جائزدى نوبقاء خوبه په طريقه اولى سره جائزوي .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجع دى ،كمافى شرح التنوير (ويتنفل مع قدرته على القيام قاعدا)لامضطجعا الابعذر (ابتداء و)كذا (بناء)بعدالشروع بلاكراهة فى الاصح كعكسه .وقال ابن عابدين :ومعنى البناء ان يشرع قائما لم يقعد فى الاولى اوالثانية بلاعذر استحسانا خلافالهما وهل يكره عنده الاصح لا (ردالمحتار: ١\٥١٥)

(۲۴۸)قوله وراكبا اى يتنفل ايضا حال كونه راكبا ،يعنى له ښار څخه دباندي په سورلى باندي نوافل اداء كول جائزدي كه مسافر وي اوكه مقيم وي كوم طرف چې يې هم دسورلى متوجه وي هغه طرف دي يې مخ ګرځولوسره لمونځ اداء كړي يعنى دقبلې طرف ته مخ ګرځول ضروري نه دي اوركوع اوسجده دي په اشاره سره كوي ﴿لحديث ابن عمر رضي الله عنه قال رايت رسول الله ﷺ يصلّى على حمار وهو متوجه الى خيبر يؤمى ايماء﴾ (يعنى ما حضور ﷺ وليدى چې حضور ﷺ په خره باندي په اشاره سره لمونځ اداء كوى په داسې حال كې چې مخ يې دخيبر وطرف ته وو.

ف:داحكم دسنن رواتبو هم دى ولى چې سنن هم په حقيقت كې نوافل دي ،البته دسنت فجر لپاره امام ابوحنيفه رحمه الله دكښته كيدلو حكم كوي،كما فى شرح التنوير (وهذا)كله (فى الفرض)والواجب بانواعه وسنة الفجر (ردالمحتار: ١/٥١٩)

ف:البته فرائض، اوواجبات ،(لكه وتر ،منذور ،صلوة جنازه ،سجده تلاوت)په سورلى باندي اداء كول جائزنه دي ،هوكه څاروى داسې سركښه وو چې له هغه څخه له كښته كيدلوڅخه وروسته دوهم ځل سپريدل بغيرله كومک كونكى ممكن نه وواوكوم كومک كونكى هم موجودنه وي يادقافلې دتللوپه وجه سره ديو چادځان خطره وي ياكښته ختې وي وچه ځمكه نه وي يادكوم دښمن ياځناوردحملې انديښنه وي نوپه دي تولوصورتونوكې فرائض هم په سورلى باندي اداء كول جائزدي ،كمافى شرح التنوير (فهى صلوة على الدابة فتجوز فى حالة العذر)المذكور فى التيمم (لافى غيرها)ومن العذر المطر وطين يغيب فيه الوجه وذهاب الرفقاء ودابة لاتركب الابعناء (ردالمحتار: ١\٥١٨)

ف:مصنف رحمه الله په خپل قول ،خارج المصر ،سره اشاره وكړه چې په ښار كې دننه جائز نه دي كمافى حاشية الشيخ عبدالحكيم الشهيد :والمختار عدم الجواز لماقالوا ان ماثبت على خلاف القياس لايتجاوز عن مورده ولذااقتصر عليه فى المتون (هامش الهداية ١\١٣٣)اوپه،على دابته ،سره يې اشاره وكړه چې په پښودتګ كونكى لپاره جائزنه دي.

(۲۴۹)وبنى بنزوله اى اذاافتتح التطوع راكبائم نزل بنى على صلوته ،يعنى كه چاپه سورلى باندي لمونځ اداء كوى اوبياكښته شو نوپه هغه لمانځه باندي دي بناء وكړي لمونځ دي مكمل كړي ولى چې دسپرتياپه حالت كې چې يې كومه تحريمه تړلي ده لكه څرنګه چې په اشاره سره لمونځ اداء كولوته شامله ده همداشان په ركوع اوسجده كولوسره دلمانځه اداء كولوته هم شامله ده ،هوده لره په اشاره سره داداء كولورخصت ذى اوپه

رکوع او سجده سره اداء کول يې عزيمت دی ،او دلمانځه له باطلولو څخه بغير داکس له سورلی څخه په کښته کيدلو په رکوع او سجده کولو قادر دی لهذاده چې کوم لمونځ په اشاره سره اداء کړی دی او کوم چې اوس په رکوع او سجده کولو سره اداء کوي دواړو ته داتحريمه شامله ده نوکله چې دواړو ته يوه تحريمه شامله ده نو ديوه بناء به پر هغه بل باندي جائزه وي .

(۲۵۰) قوله لابعکسه ای لو افتتح التطوع نازلا ثم رکب فلايبنی علی صلوته ،يعنی که چا کښته لمونځ اداء کوي بيا د لمانځه په منځ کې په سورلی باندي سپور شو نوچې په سورلی سپور شو په هغه لمانځه دي بناء نه کوي بلکه له سره به لمونځ اداء کوي ولی کومه تحريمه چې ده پر ځمکه تړلي ده داتحريمه د رکوع او سجدي واجبونکي ده لهذا دکوم چې ده التزام کړی دی د هغه بلا عذره ترک کول جائز نه دی ،همدراز د لمانځه له باطلولو بغير په سورلی په سوريدلو سره ده لره داداء کولو قدرت هم نشته په دي وجه په سورلی سپريدل عمل کثير دی لهذا دواړوته يوه تحريمه شامله نه ده نو داول بناء پرثانی هم صحيح نه ده .

فصل في التراويح

دا فصل د تراويحو په بيان کې دی

مصنف رحمه الله تراويح دنوافلو په بحث کې د ذکر کولو پر ځای په مستقل فصل کې ذکر کړي دي ولی چې د تراويحو يو څو داسي خصوصيات دي چې په مطلق نوافلو کې نشته مثلا د رکعتونو د تعداد تعين ، او يو ځل په تراويحو کې د قرآن کريم د ختم کولو مسنون والی . او د رمضان لفظ ،له يرمض الذنوب ، (يعنی گناهونه سوځوي) څخه مأخوذ دی .

تراويح د ترويحه جمع ده او د رمضان المبارک په شپه کې د مذکوره نوافلو څلورو رکعاتو ته ترويحه ويل کيږي ،ولی چې په دوئ کې له هرو څلورو رکعتونو څخه وروسته د استراحت لپاره ناسته کيږي ،ياپه دي وجه چې لمونځ د مسلمانانو لپاره د سکون او راحت باعث دی ، کماقال ﷺ ارحنا بالصلوة يا بلال (ای بلاله د لمانځه په وجه مونږ ته راحت وبخښه)ياپه دي وجه چې دا عمل هم د هغو اعمالو له جملي څخه دی چې په آخرت کې د راحت جنت ذريعه جوړيږي .

(۲۵۱) وسن في رمضان عشرون ركعة بعشر تسليمات بعد العشاء قبل الوتر وبعده (۲۵۲) بجماعة (۲۵۳) والختم مرة (۲۵۴) وبجلسة بعد كل أربع بقدرها (۲۵۵) ويوتر بجماعة في رمضان فقط

ترجمه: او سنت دي په رمضان کې شل رکعته په لسو سلامونو سره له عشاء وروسته او له وترو څخه مخکي او له وترو څخه وروسته هم ، ،په جماعت سره ، او يو ځل د قران شريف له ختم کولو سره ،او له ناسته کولو سره له هرو څلورو رکعتو وروسته په قدر د څلورو رکعتو ،او وتر دي صرف په رمضان کې په جماعت سره کوي .

تشريح: (۲۵۱) يعنی د رمضان په مياشت کې هره شپه د ماخستن له لمانځه څخه وروسته شل رکعته تراويح کول سنت مؤکد دي ،بيادي امام دوئ ته پنځه ترويحات سره ورکړي هروه ترويحه به د څلورو رکعتو وي او هره ترويحه دي په دوو سلامونو سره اداء کړي په دي شان په لس سلامونو سره شل رکعته شول ولی چې له

حضرت ابوبكرصديق ﷺ څخه وروسته نوروخلفاء راشدينوپه لسوسلامونوسره په شل ركعته تروايحوباندي مواظبت كړى دى ،وقال ﷺ عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين (لازم ونيسئ زماسنت اودخلفاء راشدينوسنت) . بيانواصح دادى چې دتراويح وخت له عشاء وروسته تر اخرالليل پوري دى له وترو څخه مخكې وي اوكه وروسته ،دځينوحضراتو رأيه داده چې دعشاء ټول وخت دتراويحووخت دى كه له عشاء اووترو مخكې وي اوكه وروسته ،مگر قول اول ډيرصحيح دى ،كمافى شرح التنوير (ووقتها بعد صلوة العشاء)الى الفجر (قبل الوتر وبعده)فى الاصح(ردالمحتار: ١\٥٢٠)

ف :بعض روافض وايې چې تراويح سنت عمرى دى ،داهل سنتو په نزد تراويح دنبى كريم ﷺ سنت دي، لقوله ﷺ ان الله تعالى فرض عليكم صيامه وسن لكم قيامه (الله ﷻ درمضان روژې پر تاسو باندي فرض كړې دي اوتراويح يې سنت گرځولي دي)مگر تراويح ته په سنت عمرى ويلو كې هم څه حرج نشته ولى چې حضور ﷺ شل ركعته تراويح نه دي كړي بلكه اته ركعته يې كړي دي ،اوپه تراويح يې موظبت هم نه ده كړى، دترك مواظبت عذر يې دا بيان كړى دى چې چيرته پرمونږ نه فرض شي هو حضرت عمر ﷺ په وروسته كې شل ركعته كولي اوصحابه كرام ﷺ په وروسته كې په هغه عمل كونكى وو په همدي وجه دي ته سنت عمري ويل صحيح دي.

ف:په شلو ركعتو تراويح كې راز دادى چې سنن په دي وجه سره مشروع شوي دي چې په دوئ سره دفرائضو تكميل وشي اودوترپه يو ځاى كولوسره فرائض په ورځ كې شل ركعته دي نودوئ دتكميل لپاره تروايح هم شل ركعته وگرځول شوي، دامام مالک په نزدتروايح شپږديرش ركعته دي هغه داهل مدينه په عمل سره استدلال كوي.

(٢٥٢)قوله بجماعة ،جار ومجرور ،تر ،سنّ ،تعلق لري ،اى سنّ بجماعة ،يعنى تراويح په جماعة سره اداء كول سنت دي ولى چې پردي باندي دصحابه كرامو ﷺ اجماع ده اوحضور ﷺ دعدم مواظبت عذر ويلى ؤ هغه دا چې هسې نه راباندي فرض شي ،بيادتراويحو جماعت سنت كفايه دى ولى چې دحضرت ابن عمر ﷺ تخلف ثابت دى .

ف:فرائض په مسجد كې په جماعت سره اداكړي صرف دتراويحو جماعت په بل ځاى كې كول جائز دى .په دي شرط چې دمحلي په كوم مسجد كې هم دترايحو جماعت وي ،اوكه دمحله په يوه مسجد كې هم دتراويح جماعة ونه شو نوټول گناهگار دي. (احسن الفتاوى ٣\٥٢٠)

(٢٥٣)قوله والختم مرة ،دامجرور دى په ،جماعة ،باندي عطف دى ،اى سنّ ان يختم القرآن فى التراويح مرة .يعنى په تراويح كې يو ځل قرآن كريم ختم كول سنت دى ولې چې مروى ده چې د حضرت عثمان ﷺ په زمانه كې به خلكو دطول قرآت په وجه سره په لكړو تكيه كوله ظاهره ده چې له دومره تكليف سره دا څرنگه كيداى شي چې هغوئ دي په تراويح كې د قرآن ختم نه كاوو .بيا دې قرآن مجيد په دي ترتيب وايې چې په هر ركعت كې د لس آياتونه تلاوت وكړي ولى چې د تراويح ټول ركعتونه شپږسوه دي اودقرآن ټول آياتونه شپږزره شپږسوه شپږشپيته دي په دي دول به په پوره مياشت كې يو ځل قرآن كريم ختم شي .

ف:نن سبا په تراويح كښې دقرآن مجيد په اورولو باندې اجرت معلومه يامعروفه ځيني حضرات جائز بولي او ځيني نور حضرات يې بياناجائز بولي په كوم كښې چې ابتلاء عامه هم شته نومناسبه ده چې په دې باره كښې دحضرت مولانااشرف على تهانوى ﷫ فتوى بلفظه نقل كړم. سوال:،نمبر١، حافظ چې په تراويح كښې دقرآن كريم ختم كوي نوهغه ته وركول جائزدي ،يااخستل اووركول دواړه ناجائزدي ؟

نمبر٢:اوكه بلااجرت حافظ پيدانه شي نوپه اجرت به يې مقرروي اوكه په الم تركيف سره تروايح وكړي.

نمبر٣:اوكله چې په امامت اجرت اخيستل جائزدى نوپه تراويح كښې خوهم يوځل قرآن ختمول سنت مؤكد دى نوپه دې اجرت اخيستل ولى ناجائزدى ؟

الجواب:نمبر١:زه يې ناجائزګڼم ،نمبر٢:زه د،الم تركيف ،ورته وايم ،نمبر٣:فقهاء كرامو چې يوځل ختم ته سنت ويلى دى له كوم ځخه چې ظاهراسنت مؤكدمراددي نودايې هم ليكلي دي چې كه چيرته پرخلكوثقيل وي هلته دې په الم تركيف وغيره سره اداء كوي نوكله چې يې دتقليل جماعت دمحذورځخه دساتلولپاره ددې سنت دترک اجازه وركړې ده نوداستيجارعلى الطاعة محذورخوتر دې لوى دى له هغه ځخه دساتنې لپاره ولى ونه ويل شي چې په الم تركيف وغيره سره دې اداء كړي اوله دې ځخه د نمبر١،او٢وجه هم معلومه شوه. (امدادالفتاوى ج١ص٣٢١)

سوال:كه زيد ته ځوک بغيرداجرت له معلومولوپه خپله خوښه لس ياپنځه روپۍ وركړي ياپې دېوي مياشتې لپاره امام مقرركړي اوځه اجرت وركړي په دې دول سره عندالشرع اجرت حلال دى اوكه يا؟اوداامامت په صورت كښې خوپه حلال والى كښې هيڅ شبه نه معلوميږي ولى چې متأخرينوعلماؤ دامامت پراجرت فتوى وركړې ده ستاځه رأيه ده په تفصيل سره تحرير كړه.؟

الجواب :دجواز فتوى هغه وخت ده چې امامت مقصود وي حال داچې دلته مقصود په تراويح كښې ختم قرآن دى اودامحض يوحيله ده په دياناتو كښې كوم چې معامله فى مابين العبدوبين الله ده حيل مفيدجوازواقعى لره مفيدنه وي لهذادانا جائزده (امدادالفتاوى :٣٢٢\١١)وقال العلامة ظفراحمد ﵀:والاصل فيه ماحققه ابن عابدين ﵀ فى رسالته ،شفاء العليل وبل الغليل ،من حرمة الاجارة والاستيجار على مجرد تلاوة القرآن ولايخفى ان الحافظ الذى لايؤم فى الصلوات الخمس وانما للتراويح ويختم فيها ياخذ الاجر على ذالک انما هو ياخذ الاجر على الامامة فامامة التراويح بمجردها لايجوز اخذ الاجر عليها لعدم الضرورة التى بها ابيح الاجرة فى تعليم القرآن وامامة المكتوبة والاذان وغيرها فانها فرائض واسنن مؤكدة من شعائر الاسلام وامامة التراويح سنة الكفاية وتاتى بقراءة سورة قصيرة من آخر القران ولاتعوقف على الختم ،قال فى مراقى الفلاح :وسن ختم القران فيها مرة فى الشهر على الصحيح ،وان مل به القوم قرأ بقدر مالايؤدي الى تنفيرهم فى المختار ،لان تكثير القوم افضل من تطويل القراة وبه يفتى ،قال الزاهدى :يقرأ كما فى المغرب اى بقصار المفصل بعد الفاتحة اه قال الصدر الشهيد :الجماعة سنة على الكفاية فيها حتى لو اقامها البعض فى المسجد بجماعة وباقى اهل المحلة اقامها منفردا فى بيته لايكون تاركا للسنة لانه يروى عن افراد الصحابة التخلف اه (من مراقى الفلاح :ص ٢٢٠)بخلاف جماعة المكتوبات فانها واجبة على العين اوسنة مؤكدة وايضا فانها من الشعائر لتحققت الضرورة فيها دون جماعة التراويح فلايجوز اخذ الاجرة على امامتها مجردة ولاعلى الختم فيها والتخلف عن مثل هذا الامام اولى .والله اعلم(امدادالاحكام.٣\٥٥٩.كتاب الاجارة)

ف:دشپيني لپاره دخلكوپه جمع كولوسره دتراويح په شان په نفل لمانځه كښې دقران كريم اورول مكروه دي اوكه دشپينه دجماعت لپاره دعوت نه وي وركړل شوى مقتدى صرف دوه كسان وي دلاؤډاسپيكرله اوازځخه خلک نه په تكليف كيدل نوبلاكراهته جائزده ليكن په متعارفه شبينه كښې قبائح مثلا(نوافل په

جماعت سره اداء کول ،نوم اونښان ،دلاؤډاسپیکرپه وجه سره دمحلي دوالاووپه کار،ارام اوعبادت کې خلل ،اوله ضرورت څخه زیاته رڼا،وبنایې اومتاپې وغیره التزام)په هرحال وي لهذاله دې څخه اجتناب ضروري دی. (احسن الفتاوی ۳/۵۲۲)

(۲۵۴)قوله وجلسة ای ومن جلسة کالثة بعد رکعات ، ،یعني دهرودوو ترویحو په منځ کې داستراحت په غرض دیوي ترویحې په اندازه کښېنستل مستحب دي ،همداشان دپنځمې ترویحې اووترو په مینځ کې کښېنستل هم مستحب دي ،ولی چې تراویح له ترویحه څه مأخوذ دی اوترویحه دراحت په معنی سره ده نودتراویح معنی په دي استراحت دلالة کوي ،اوددوو ترویحو په منځ کې که یې خوښه وي نوتسبیح دي وایي یادي تلاوة کوي یادي خاموش اوسي یادي هریو ځان ته لمونځ کوي ، بیادي امام دوئ ته وترورکړي .

(۲۵۵)صرف په رمضان کې به وترپه جماعة سره اداکوي ولی چې پر دي دمسلمانانو اجماع ده .له رمضان المبارک څخه علاوه دي وتر په جماعت سره نه کوي ولی چې وتر من وجه نفل دي اودرمضان المبارک ماسوا نفل په جماعة سره اداء کول مکروه دي.

ف:که چاله امام سره دتراویحوځورکعتونه ومونډل اوڅه تیرشوي وواوامام دوترواداء کولولپاره ولاړشونوداکس دي له امام سره اول وتراداء کړي وروسته دي پاتې تراویح اداء کړي کمافی شرح التنویر :فلوفاته بعضها وقام الامام الی الوتر اوتر معه ثم صلی مافاته (ردالمحتار: ۱/۵۲۱)

بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ

دا باب دفرض مونډلو په بیان کې دی

ددي باب له،باب نوافل، سره مناسبت دادی چې په جماعة سره لمونځ اداء کول له اصل فرض څخه زائد شئ دی لکه نفلي لمونځ چې داصل فرائض څخه زائد شئ ده نوپه دي وجه یې له، باب نوافل، وروسته باب ادراک الفریضة ذکر کړ .

ف:بیااصل دادی چې بلاعذره قصدا عبادت ماتول حرام دی لقوله تعالی ﴿لاتبطلوااعمالکم﴾ (یعني خپل اعمال مه باطلوئ)البته داکمال لپاره ماتول جائزده لکه څرنګه چې دمسجد خرابول داصلاح مسجد لپاره ،نوڅرنګه چې ترانفرادا (یواځې)لمانځه اداء کولو څخه په جماعة سره دلمانځه په اداء کولوکې ثواب ډیردی په دي وجه ددي ثواب دحاصلولو لپاره دمنفردلپاره دخپل لمانځه ماتول جائزدی .

(۲۵۶)صلی رَکْعَةً مِنَ الظُّهْرِ فَأُقِيمَ يُتِمُّ شَفْعًا وَيَقْتَدِي (۲۵۷)فَلَوْ صَلَّى ثَلَاثًا يُتِمُّ وَيَقْتَدِي مُتَطَوِّعًا (۲۵۸)وَإِنْ صَلَّى رَكْعَةً مِنَ الْفَجْرِ أَوِ الْمَغْرِبِ فَأُقِيمَ يَقْطَعُ وَيَقْتَدِي (۲۵۹) وَكُرِهَ خُرُوجُهُ مِنْ مَسْجِدٍ أُذِّنَ فِيهِ حَتَّى يُصَلِّيَ (۲۶۰) وَإِنْ صَلَّى لَا إِلَّا فِي الظُّهْرِ وَالْعِشَاءِ إِنْ شَرَعَ فِي الْإِقَامَةِ

ترجمه ،دماپښین یورکعت لمونځ یې اداءکړی ووچې اقامت وشونودوه رکعته دي پوره کړي لواقتداء دي وکړي ،اوکه یې دري رکعته اداءکړي وونوپوره دي کړي اودنفلوپه نیت سره دي اقتداء وکړي ،نوکه یې یورکعت دفجریامغرب اداء کړی ووبیااقامت وشونومات دي کړي اواقتداء دي وکړي ،اومکروه ده له داسي مسجد څخه وتل په کوم کې چې اذان شوی وي ترڅوچې لمونځ اداء کړي ،اوکه یې لمونځ اداءکړی وي نومکروه نه ده مګرپه ماپښین اوعشاء کې که اقامت شروع شوی وو.

تشريح :(۲۵۶)قوله يتم شفعا اى يتم تلك الركعة شفعا بان يضم اليها ركعة اخرى ،يعني كه چادمانځه پيل كړى وي او دا اول ركعت اداء كړي وي يعني اول ركعت يې په سجده سره مقيد كړچې دجماعت لپاره اقامت وشو يعني جماعت شروع شو نو دا كس دې له خپل دې ركعت سره يو بل ركعت هم اداء كړي او له امام سره دې شريک شي ولې چې له امام سره دشريک كيدلو لپاره داول ركعت په پرېښودلو كې بطلان عمل راځي كوم چې ممنوع دى لقوله تعالىٰ ﴿لاتبطلوا اعمالكم﴾ (يعني خپل اعمال مه باطلوئ)البته كه يې اول ركعت په سجده سره نه و مقيد كړى چې جماعت ودريدى نو اوس دې دا ركعت مات كړي او په جماعت كې دې شامل شي ولې چې اول ركعت په سجده سره له مقيد كولو وړاندې ماتيدلى شي د دې نظير موجود دى مثلاً څوک پر څلورم ركعت له كښېنستلو بغير د پنځم ركعت لپاره ولاړ شو نو تر څو چې يې پنځم ركعت په سجده سره نه وي مقيد كړى د هغه د پرېښودلو او د قعدې طرف ته د بيرته راګرځيدلو حكم دى نو دلته دې هم دا يو ركعت مات كړي.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد دې په دې يوه ركعت باندې د تشهد په ويلو سره سلام وګرځوي دا يو ركعت دې د نفل شي احناف خواب وركوي چې په حديث شريف كې نبى كريم ﷺ له بتيرا يعني تنها يوه ركعت له اداء كولو څخه منع فرمايلې ده.

ف:په متن كې له اقامت څخه مراد په لمانځه كې دامام شروع كول مراد دي دمؤذن اقامت كول مراد نه دى نو كه مؤذن اقامت شروع كړ او متنفل خپل اول ركعت په سجده سره نه و مقيد كړى نو هغه دې دا ركعت پرېږدي نه بلكه بالاتفاق دې دواړه ركعتونه مكمل كړي كمافى الشامية :المراد بالاقامة الشروع فى الفريضة فى مصلاه لااقامة المؤذن الخ ح اى فلايقطع اذااقام المؤذن وان لم يقيد الركعة بالسجدة بل يتمها ركعتين.(ردالمحتار: ۱\۵۲۵)

(۲۵۷)قوله ويقتدى متطوعا اى ويقتدى بالامام حال كونه متطوعا ،يعني كه چادمانځه پيل كړى وي او درې ركعته اداء كړل اوس جماعت ودريدى نو دا كس دې خپل څلور ركعته پوره كړي ولې چې للاكثر حكم الكل نو دا دې دماتولو احتمال نشته لهذا :جماعت د فضليت د حاصلولو لپاره دې د نفلو په نيت سره په جماعت كې شريک شي. د فرضو په نيت سره دې نه شريک كيږي ولې چې په يوه وخت كې د فرضو تكرار مشروع نه دى .پاتې شو د نفلو جماعت هغه هغه وخت مكروه دى چې امام هم نفل اداء كوي كه امام فرض اداء كوي او مقتدى د نفلو نيت وتړي نو دا مكروه نه دى.

(۲۵۸)كه چا د سهار يا د ماښام يو ركعت كړى وُ چې جماعت ودريدى نو تر څو چې هغه دوهم ركعت په سجده سره مقيد كړى نه وي نو د جماعة ثواب حاصلولو لپاره دې هغه يو ركعت پرېږدي او له امام سره دې په جماعة كې شريک شي .البته كه يې دوهم ركعت په سجده سره مقيد كړى وو نو اوس دې هغه خپل لمونځ پوره كړي په جماعة كې دې شركت نه كوي.

(۲۵۹)په كوم مسجد كې چې اذان وشي اوس له هغه مسجد څخه بغير له لمانځه اداء كولو وتل مكروه تحريمي دي البته كه په دې كس پسې د كوم بل جماعت انتظام متعلق وو نو بيا وتل مكروه نه دي ولې چې په حقيقت كې دا كس د تكميل لپاره وځي لقوله ﷺ «لايخرج من المسجد بعد النداء الا منافق او رجل يخرج لحاجة يريد الرجوع» (په مسجد كې له اذان كيدلو څخه وروسته څوک نه وځي مګر منافق يا هغه كس كوم چې بيرته راتلو په اراده سره د كوم ضرورت لپاره ووځي).

(۲۶۰)قوله وان صلى لا اى ان صلى تلك الصلوة التى اذن لها فلايكره خروجه ،يعني كه دي كس د دي وخت لمونځ اداء كړي وي دكوم لپاره چې اذان وشو نو ددي كس لپاره له مسجد څخه وتل مكروه نه ده ولي چې دي كس يوځل دالله ﷻ دداعي يعني د مؤذن دعوت قبول كړی دی ،البته كه دا لمونځ دماپښين يا دماخستن وو او مؤذن اقامت شروع كړ نو اوس دي نه وځي بلكه دنفلو نيت دي وكړي او په جماعة كې دي شامل شي ولي چې كه اوس دی ووځي نو پر ده باندي دجماعة دمخالفت تهمت لګول كيږي.

(۲۶۱)ومن خاف فوات الفجر إن أدى سنته ائتم وتركها (۲۶۲) وإلا لا (۲۶۳) ولم تقض إلا تبعا (۲۶۴) وقضى التي قبل الظهر في وقته قبل شفعه (۲۶۵) ولم يصل الظهر جماعة بإدراك ركعة بل أدرك فضلها

ترجمه: او چالره چې خوف دفجر د دواړو ركعتو دفوت كيدلو كه اداء كړي سنت فجر نو اقتداء دي وكړي او سنتونه دي پريږدي ،كه نه نو نه ،او قضاء دي نه راوړي مګر دفرضو په تابع جوړولو سره ،او قضاء دي راوړل شي له ماپښين څخه دمخكنيو څلورو سنتو د دي وخت له دوو ركعتو څخه وړاندي ،او نه يې ده اداء كړی دماپښين لمونځ په جماعت سره ديوه ركعت په موندلو سره بلكه موندلی يې دی دجماعت فضليت.

تشريح: (۲۶۱)كه يو چا ته ويره وه چې كه زه دفجر سنت كوم نو په جماعة سره به دواړه ركعته ګيرنه كړم نو دی دي سنت پريږدي او له امام سره دې په جماعة كې شامل شي ولي چې دجماعة ثواب دفجر تر سنتو زيات دی او په ترک جماعت كې شديد وعيد راغلی دی ،وهو قول ابن مسعود رضي الله عنه لايتخلف عن الجماعة الا منافق (يعني له جماعت څخه نه پاتي كيږي مګر منافق).

(۲۶۲)قوله والالا اى وان لم يخف فوت الفجر ان اشتغل بالسنة الفجر فلايترك السنة ،يعني كه د دواړو ركعتو نو د تيريدلو ويره نه وه بلكه ديوه ركعت دنيولو اميد وو نو اوس دي سنت نه پريږدي ولي چې په دي صورت كې د دواړو فضيلتونو جمع كول ممكن دی..

ف: مګر شرط دا دی چې سنت له مسجد څخه دباندي اداء كړي كه له مسجد څخه دباندي ځای نه وي نو د ديوال يا ستني شاته دي اداء كړي ،دصف شاته بلاحائل اداء كول مكروه تحريمي ده . تر ټولو زيات كراهة په دي صورت كې دی چې په صف كې دننه دامام په مخالفت كولو سره سنت اداء كړي بيا له صف شاته په بلاحائل اداء كولو كې دير كراهت دی كمافي الشامية (قوله عند باب المسجد) اى خارج المسجد كما صرح به القهستاني وقال في العناية لانه لو صلاها في المسجد كان متنفلا فيه عند اشتغال الامام بالفريضة وهو مكروه فان لم يكن على باب المسجد موضع للصلوة يصليها في المسجد واشد كراهة ان يصليها مخالطا للصف مخالفا الجماعة والذي يلي ذالک خلف الصف من غير حائل (ردالمحتار: ۱\۵۳۰)

(۲۶۳)قوله ولم تقض الاتبعا اى ولم تقض سنة الفجر الاتبعا للفرض ،يعني كه له چا څخه صرف دسهار سنت قضاء شي نو د شيخينو په نزد به صرف دسنتو قضاء نه راوړي ،امام محمد رحمه الله فرمايي چې له زوال څخه وړاندي يې قضاء راوړل بهتر دي ،لقوله ﷺ من لم يصل ركعتين الفجر فليصلهما بعد ماطلعت الشمس (كوم كس چې دسهار سنت ونكړي نو دلمر راختلو وروسته دې اداء كړې).هو كه فرض او سنت دواړه قضاء شو نو دفرضو په اتباع كې ترزوال مخكې سنت هم راو ګرځوي ولي چې په سنتو كې اصل دا دی چې قضايي نه وشي ولي چې قضاء په واجب پسې مختصه ده البته په ليلة التعريس كې حضور ﷺ دفرضو په اتباع كې دسنتو قضاء راوړي وه لهذا دي صورت څخه علاوه دسنتو په باره كې چې كوم اصل دی يعني عدم قضاء پر هغه به عمل كيږي.

(۲۶۴)که له چا څخه دماپښین مخکښې څلور رکعته سنت پاتې شي نو دامام محمد رحمه الله په نزد دي هغه دماپښین په وخت کښې له ورستنیو دوو رکعتو سنتو څخه وړاندې اداء کړل شي په همدې فتوی ده په متونو کښې همدا ایکل شوي دي لیکن په فتح القدیر او مبسوط شیخ الاسلام کښې یې ددوو رکعتو تقدیم ته ترجیح ورکړې ده ﴿لحدیث عائشة رضي الله عنها انه ﷺ کان اذا فاته الاربع قبل الظهر یصلیهن بعد الرکعتین﴾(یعنی کله چې به له حضور ﷺ څخه دماپښین تر لمانځه مخکښې څلور رکعته سنت پاتې شول نو هغه به یې له دوو رکعتو سنتو وروسته اداء کړل)او دا امام ابو حنیفه رحمه الله قول دی .(کما فی الشامیة:۵۳۱\۱)

(۲۶۵)که چا دماپښین یو رکعت په جماعت سره ومونده نو داکس دظهر په جماعت سره اداء کونکی نه شمارل کیږي ولې چې ده صرف دظهر یو رکعت په جماعت سره اداء کړی دی ،نو که چا قسم واخیست چې والله زه به دماپښین لمونځ په جماعت سره اداء نه کړم بیا ده یو رکعت په جماعت سره ومونده نو داکس نه حانث کیږي ،هو دجماعت ثواب ده ته حاصلیږي ولې چې داخر شئ موندونکی دشئ موندونکی شمارل کیږي ،لیکن داکس که څه هم دجماعت ثواب موندلی شي مگر دمدرک ثواب بیا هم زیات دی ولې چې مدرک تحریمه هم موندلې ده .

(۲۶۶)وَیَتَطَوَّعُ قَبْلَ الْفَرْضِ اِنْ اَمِنَ فَوْتَ الْوَقْتِ وَاِلَّا لَا (۲۶۷)وَاِنْ اَدْرَکَ اِمَامَهُ رَاکِعًا فَکَبَّرَ وَوَقَفَ حَتّٰی رَفَعَ رَأْسَهُ لَمْ یُدْرِکِ الرَّکْعَةَ (۲۶۸)وَلَوْ رَکَعَ مُقْتَدِیْهِ فَاَدْرَکَهُ اِمَامُهُ فِیْهِ صَحَّ

ترجمه:اونفل اداء کولی شي له فرضو څخه وړاندې که خطره نه وه دوخت دفوت کیدلو که نه نو نه ،او که یې ومونده امام په رکوع کښې او تکبیر یې ووایو او ولاړ پاتې شو تر څو چې امام سر اوچت کړ نو ده نه دی موندلی دا رکعت ،او که رکوع وکړه مقتدی بیا مونده دی امام په رکوع کښې نو دا صحیح ده .

تشریح:(۲۶۶)که دوخت دتیریدلو ویره نه وه نو تر فرضو مخکښې څومره چې غواړي نفل کولای شي که دوخت دوتلو ویره وه نو نفل دې نه کوي تر څو فرض له خپل وخت څخه فوت نه شي بلکه که دفرضو دفوت کیدلو ویره وه نو نوافل کول حرام دي ولې چې په دې وخت کښې نفل کول دفرضو دفوت کیدلو سبب دي .

ف:تطوع سنن مؤکده او نوافلو دواړو ته شامل دي نو دځینو حضراتو رایه داده چې دوخت دتنگی په صورت کښې دسنن او نوافلو دترک حکم دظهر او فجر دسنتو علاوه په نورو کښې دی ،ولې چې دظهر او فجر سنن دنورو سننو په مقابله کښې زیات مؤکد دي .هو که وخت بالکل تنگ شي چې دفرضو علاوه دنورو ځای پاتې نه شي نو بیا دظهر او فجر سنن هم پرېښودلی شي .حال دا چې دځینو نورو علماو رایه داده چې څرنګه چې سنن دفرائضو دتکمیل لپاره دي لهذا دفرائضو دثواب دپوره کیدلو لپاره تول سنن په هیڅ حال کښې نه پرېښودل کیږي هو که دوخت دفوت کیدلو خوف وي نو سنن دې ترک کړي او فرائض دې اداء کړي .

(۲۶۷)که یو څوک په داسې وخت کښې راورسیدی چې امام په رکوع کښې وو او دې کس تکبیر ووایو تر دومره پورې ولاړ وو چې امام له رکوع څخه سر اوچت کړ نو ده له امام سره دا رکعت نه دی موندلی ولې چې درکعت موندلو لپاره شرط دادی چې له امام سره دلمانځه په افعالو کښې شریک وي یعنی په قیام یا رکوع حال دا چې دی نه په قیام کښې شریک شوی دی او نه په رکوع کښې شریک شوی دی .

ف :که مقتدي په داسې حال کې رکوع ته ولاړشي چې امام له رکوع څه راپورته کیږي مګر تر اوسه لاامام دومره نه دراپورته شوی چې لاسونه یې ګونډوته نه رسیږي ،په دې حال کې مقتدي دومره ټیټ شو چې لاسونه یې ګونډوته رسیدل نوده دارکعت وموندی اوس ده لره دیوه تسبیح په اندازه په رکوع پاته کیدل واجب دی ،باقي تسبیحات دې پریږدي ولې چې دامام اتباع کول واجب ده کمافي الهندیة:ادرک الامام في الرکوع فكبر قائما ثم شرع في الانحطاط وشرع الامام في الرفع الاصح ان يعتد بها اذا وجدت المشاركة قبل ان يستقيم قائما وان قل هكذا في المعراج (هندیه: ۱\۱۲۰)

(۲۶۸)که مقتدي تر امام مخکې رکوع ته ولاړ بیا امام هم له ده سره په دې رکوع کې شریک شو نو دده دا رکوع صحیح شوه ولې چې دامام او مقتدي د رکوع څخه په یو جزء کې شریک کیدل شرط دی اودا شرط دلته موجود شو ولې د رکوع په پیل کې که څه هم شرکت نشته مګر په اخیر جزء کې شته .مګر له امام څه وړاندې رکوع ته تلل مکروه دي لقوله ﷺ ﴿لاتبادرني بالرکوع والسجود﴾ (له ما څخه په رکوع او سجده کې تلوار مه کوي)،او که امام لا رکوع ته نه وتللی چې دی اوچت شو نو جائز نه ده ولې چې د رکوع په یوه جزء کې شرکت موجود نه شو.

ف:که مقتدي قصدا ترڅپل امام مخکې سلام وګرځوی نودهغه لمونځ صحیح دی مګر داسې عمل کول مکروه تحریمي ده ولې چې دامام متابعت واجب دی،البته که یې سهوا یاد داسې سختې مجبوري په وجه سره سلام وګرځاووکومه چې په لمانځه کې دتشویش سبب جوړیدله لکه خوف حدث وغیره نو بیا کراهت نشته.

باب قضاء الفوائت

داباب دفوت شویو لمونځونو دقضاء په بیان کې دی

مصنف رحمه الله داداء او دهغه دمتعلقاتو له بیان څه فارغ شو نو دقضاء شویو لمونځونو بیان یې شروع کړ ځکه چې اداء اصل ده او قضاء دهغې خلیفه ده نو په دې وجه یې داداء بیان مقدم کړ ،عین واجب مستحق ته سپارلو ته اداء ویل کیږي او مثل واجب سپارلو ته قضاء ویل کیږي.

(۲۶۹)الترتيب بين الفائتة والوقتية (۲۷۰)وبين الفوائت مستحق (۲۷۱)ويسقط بضيق الوقت والنسيان (۲۷۲)وصيرورتها ستا (۲۷۳)ولم يعد بعودها الى القلة (۲۷۴)فلو صلى فرضا ذاكرا فائتة ولو وترا فسد فرضه موقوفا

ترجمه: ترتیب دقضاء او وختي لمونځو په منځ کې ،او څو فوت شویو لمونځو په منځ کې واجب دی ،او ساقطیږي دوخت په تنګۍ سره او په نسیان (هیره)سره ،او دفوت شویو لمونځونو په شپږ کیدلو سره ،او ترتیب نه راګرځي دلمونځو په راګرځیدلو سره دلږوالي طرف ته .نو که چا فرض لمونځ اداء کړ په داسې حال کې چې فوت شوی لمونځ یې په یاد وو که څه هم هغه وتروي نو فاسدیږي دده فرض لمونځ په فساد موقوف سره.

تشریح:(۲۶۹)داحنافو په نزد په فوتي لمانځه او وختي لمانځه کې ترتیب واجب دی یعنې دقضایې لمانځه په وختي لمانځه وړاندې کول واجب دی ولې چې دحضرت ابن عمر رضي الله عنه اثر دی من نام عن صلوة او نسيها

فلم يذكرها الا وهو مع الامام فليصل التي هو فيها ثم ليصلي التي ذكرها ثم ليعد التي صلى مع الامام (كه د چا څخه د خوب په وجه لمونځ قضاء شو يا يې هېر شو بيا يې په ياد شو هغه وخت چې له امام سره په لمانځه ولاړ وو نو له امام سره دې لمونځ وكړي بيا دي قضايې لمونځ وكړي بيا دي له امام سره اداكړى لمونځ را وګرځوي) څرنګه چې قضايې لمونځ په وختي لمانځه مقدم كول واجب دي په دي وجه په حديث شريف كې د وختي لمانځه د مقدم كولو په وجه سره د راګرځولو حكم شوى دى .

ف: د امام شافعي رحمه الله په نزد ترتيب مستحب دى واجب نه دى ولې چې هر فرض لمونځ په خپله اصل دى لهذا د كوم بل فرض لپاره به شرط نه وي ولې چې شرط تابع وي او په اصالت او تبعيت كې منافاة دى. امام شافعي رحمه الله ته ځواب وركړل شوى دى چې ديو شئ بنفسه اصل والى د كوم بل شئ لپاره له شرط كيدلو سره منافي نه دى لكه ايمان چې اصل بنفسه دى خو بيا هم د نورو ټولو اعمالو لپاره شرط دى .

(۲۷۰)يعنى ترتيب لكه څرنګه چې د وختي او قضايې لمانځه په منځ كې فرض دى همداشان په خپله د قضايې لمونځونو په منځ كې هم شرط دى ،نو كه له چا څخه څو لمنځونو قضاء شول نو د هغو قضاء دي په هغه ترتيب سره راوړي په كوم ترتيب سره چې اداء واجب شوي وه ﴿لان النبى ﷺ شغل عن اربع صلوات يوم الخندق فقضاهن مرتبا ثم قال صلوا كما رايتمونى اصلى﴾ (حضور ﷺ د خندق د غزا په ورځ د كفارو سره د جنګ په وجه له څلورو لمونځو څخه مشغول كړى شو (يعنى د لمانځه كولو فرصت ئې پيدا نه كړ) نو حضور ﷺ بيا د هغو قضاء په ترتيب سره راوړه بيا يې وفرمايل چې لمونځ اداء كوئ لكه څرنګه چې تاسې زه وليدم چې زه لمونځ اداء كوم)د استدلال وجه داده چې حضور ﷺ قضاء شوي لمنځو نه په ترتيب سره راوګرځول بيا يې أمر وكړ چې ،صلوا كما رايتمونى اصلى ،چې له دي وروسته هم د لمانځه قضا په دي شان كوى او أمر د وجوب لپاره دى په دي وجه ترتيب واجب دى .

(۲۷۱)د قضايې او وختى لمنځونو په منځ كې ترتيب واجب دى خو دا وجوب په يوه له دريو امورو څخه ساقطيږي ،(۱)كه وخت تنګ شو او داوير ه وه چې كه د فوت شوى لمانځه په قضاء مشغول شم نو وخت به ووځي نو په دي صورت كې دي وختي لمونځ مقدم كړي بيا دي له دي وروسته د فوت شوى لمانځه قضاء رواړي ولې كه په دي صورت كې هم ترتيب واجب وبلل شي نو بيا به د وختى لمانځه فوت كيدل لازم شي حال دا چې د وختى لمانځه په خپل وخت كې اداء كول په دليل قطعى سره ثابت دي او د قضايې او وختى لمنځونو په منځ كې ترتيب په دليل قطعى سره ثابت نه دى .

(۲)همداشان كه يې فوت شوى لمونځ هېرو او وختي لمونځ يې اداء كړ نو دا صحيح ده ولې چې د نسيان په وجه سره ترتيب ساقطيږي همداشان روايت شوى دى چې يوه ورځ حضور ﷺ د ماښام لمونځ اداء كړ بيا يې لغ صحابه كرامو ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې ايا له تاسو څخه يوه زه د عصر د لمانځه په اداء كولو وليدم ؟صحابه كرامو ﷺ وويل مونږ نه يې ليدلى حضور ﷺ د عصر لمونځ راوګرځوى او د ماښام د لمانځه اعاده يې نه وكړه، نو معلومه شوه چې په نسيان سره هم ترتيب ساقطيږي .

(۲۷۲)(۳)قوله وصیرورتهاستا ای ویسقط الترتیب بصیرورة الفائتة ست صلوات .یعنی دریم صورت دادی چې فوت شوی لمنځونه شپږوته ورسیږي نوددوی په منځ کې ترتیب ساقطیږي ولی چې په دې صورت کې فوائت کثیردي نوددفع حرج لپاره ترتیب ساقطیږي لکه څرنګه چې دفوائت کثیره اووختی لمنځونوپه منځ کې ترتیب ساقطیږي.

(۲۷۳)قوله ولم یعد بعودها الی القلة ای لم یعد الترتیب بعود الفوائت الی القلة .یعنی دکثرت فوائت په صورت کې ترتیب ساقطیږي لیکن که یوڅوفوت شوی لمونځونه راوګرځول نودباقی فوت شویو لمنځونوپه منځ کې ترتیب بیرته راګرځي که یا؟ دځینوحضراتورأیه داده چې ترتیب بیرته راګرځي مګر صحیح داده چې ترتیب نه راګرځي ولی چې ساقط شوی امربیرته عودنه کوي قال ابوحفص الکبیر وعلیه الفتوی ,کمافی درالمختار (ولایعود)لزوم الترتیب (بعدسقوطه بکثرتها) ای الفوائت (بعود الفوائت الی القلة)بسبب (القضاء) لبعضها علی المعتمد لان الساقط لایعود .قال ابن عابدین رح(قوله علی المعتمد)هواصح الروایتین وصححه ایضافی الکافی والمحیط وغیره وعلیه الفتوی وقیل بعودالترتیب واختاره فی الهدایة ورده فی الکافی والتبیین واطال فیه فی البحر (ردالمحتار: ۱\۵۴۰).

(۲۷۴)که دچایادووچې زماپرذمه قضایي لمونځ شته که څه هم وتروي بیاهم هغه وختي لمونځ وکړ نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دده دا لمونځ فاسد موقوف دی یعنی که یې نور پنځه لمنځونه اداء کړل نوبیایې دا ټول لمنځونه صحیح دي اوس دترتیب درعایت نه کولوپه وجه سره چې کوم لمنځونه صحیح فاسدشوي ووهغه صحیح شول دهغوئ قضاء لازمه نه ده ولی چې ددې لمنځونودفساد علت وجوب ترتیب دی اوکله چې دی په همدې شان پنځه لمنځونه اداء کړل نواوس دفوتي لمنځونو تعدادشپږوته ورسید واوپه شپږولمنځونوسره کثرت ثابتیږي اوداوړاندې تیره شوه چې په کثرت فوائت سره ترتیب ساقطیږي اوکله چې ترتیب ساقط شونوټول لمنځونه صحیح شول.

الالغاز:أی صلوة أفسدت خمسا؟وأی صلوة صححت خمسا؟

فقل:رجل ترک صلوة وصلی بعدهاخمسا ذاکرا للفائتة ,فان قضی الفائتة فسدت الخمس ,وان صلی السادسة قبل قضاها صحت الخمس.(الاشباه والنظائر)

ف:درمضان المبارک په آخری جمعه کې ځنې حضرات دقضاء عمرې په نامه دوه رکعته په جماعة سره اداء کوي داداء کونکو ګمان دادی چې د ټول عمرد قضایي لمنځونو څخه یې ذمه فارغه کیږي دا مروجه قضاء عمرې علماء دیوبندپه بدعت سیئه کې شمارکړي ده نوپه دې وجه په دې کې شرکت کول ښکارنه دي .(فتاوی حقانیه:۳\۳۰۱)

ف:که یوڅوک احتیاطا قضایي لمنځونه اداء کول وغواړي نو دماښام فرض اودماخستن وتر دې هم څلور رکعته کوي البته دماښام په آخری رکعت کې دې له الحمد لله سره سورة هم وایي اوله دریم رکعت وروسته دې قعده هم کوي اوهمداشان دې دوترو په دریم رکعت کې دعاء قنوت هم وایي .(فتاوی حقانیه:۳\۳۰۳)

باب سجود السهو

داباب سجده سهو په بيان کې دی

مصنف رحمه الله داداء اوقضاء له بيان څخه فارغ شو اوس يې دهغه شئ بيان شروع کړ کوم چې په هغوکې دواقع کيدونکی نقصان تلافي کوي يعنی دسجده سهو بيان يې شروع کړ ،په سجود السهو کې اضافت له قبيلې داضافت المسبب الی السبب دی ولی چې په لمانځه کې سهو دسجدې دوجوب سبب دی .

(۲۷۵)يَجِبُ بَعْدَ السَّلَامِ سَجْدَتَانِ بِتَشَهُّدٍ وَتَسْلِيمٍ بِتَرْكِ وَاجِبٍ وَإِنْ تَكَرَّرَ (۲۷۶) وَبِسَهْوِ إِمَامِهِ (۲۷۷) لَا بِسَهْوِهِ (۲۷۸) وَإِنْ سَهَا عَنِ الْقُعُودِ الْأَوَّلِ وَهُوَ إِلَيْهِ أَقْرَبُ عَادَ وَإِلَّا لَا وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ (۲۷۹) وَإِنْ سَهَا عَنِ الْأَخِيرِ عَادَ مَا لَمْ يَسْجُدْ وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ

ترجمه: واجب دي له سلام څخه وروسته دوه سجدې له تشهد او سلام سره دترک واجب په وجه سره که څه هم ترک واجب مکرر شي ،او دامام په سهو سره ،نه دمقتدی په سهو سره ،او که يې هيره شوه اوله قعده حال داچې هغه قعود ته نژدې دی نوبيرته دې راوګرځي که نه نو نه دې راګرځي اوسجده سهو دې وکړي ، او که يې هيره شوه اخيري قعده نوبيرته دې راوګرځي ترڅو چې سجده ونه کړي او سجده سهو دې وکړي .

تشريح :(۲۷۵)يعنی که لمونځ کونکې په لمانځه کې دداسې کوم واجب فعل ترک کړنوپر ده سجده سهو واجبيږي که څه هم ترک واجب مکرروي يعنی که سهواً له ده څخه څو واجبات پاتې شي نو هم دسهو دوه سجدې کافي دي اوپرچاچې سجده سهو واجب شوه نو هغه دله سلام څخه وروسته دوي سجدې وکړي بيا دې تشهد ووايي اوسلام دې وګرځوي ،لقوله ﷺ من سهی عن الصلوة فليسجد سجدتين (يعنی کوم څوک چې په لمانځه کې سهو شي نو هغه دې دوي سجدې وکړي).

ف :په دې خبره خودټولو اتفاق دی چې که سجده سهو له سلام څخه وړاندې وکړي اوکه وروسته دواړه جائزدي البته په اولويت کې اختلاف دی داحنافو په نزد له سلام څخه وروسته اولی دي ،دامام شافعی رحمه الله په نزد له سلام څخه وړاندې اولی ده اودامام مالک رحمه الله په نزد که له مصلی څخه په لمانځه کې نقصان شوی وي نوله سلام څخه وړاندې دې سجده سهو وکړي اوکه زيادت شوی وي نوله سلام څخه وروسته دې سجده سهو وکړي ،زموږدليل دنبی کريم ﷺ ارشاد ﴿لکل سهو سجدتان بعد السلام﴾ (يعنی دهرې سهو لپاره له دوې سجدې دي له سلام څخه وروسته)دی .

ف :او په دې کې دعلماکرامو اختلاف دی چې دسجده سهو لپاره به يوه طرف ته سلام ګرځوي اوکه دواړو طرفوته،ځينې حضرات دواړو طرفوته دسلام ګرځولو قائل دي ،اوځينې حضرات په دې دول ديوه سلام قائل دي چې مخ دکعبی له طرف څخه ونه ګرځي اوځينې ښی طرف ته ديوه سلام ګرځولو قائل دي همدا صحيح ده ولی چې دواړو طرفوته دسلام ګرځولو په صورت کې که ساهی امام وي نوپه جماعت کې خلل واقع کيږي ولی کوم مقتديان چې مسبوق وي هغوئ به په دې خيال ولاړيږي چې لمونځ مکمل شو. کمافی

الهنديه: والصواب ان يسلم تسليمة واحدة وعليه ال جمهور (هندية: ۱\۱۳۵)،وفی ردالمحتار: وفی الحلية اختار الکرخی وفخر الاسلام وشيخ الاسلام وصاحب الايضاح ان يسلم تسليمة واحدة ونص فی المحيط علی انه الاصوب وفی الکافی علی انه الصواب الخ قلت وعليه فليجب ترک التسليمة الثانية.(ردالمحتار: ۱\۵۴۶)

(۲۷۶)قوله وسهو امامه اى يجب على المقتدى بسهو امامه، كه له امام څخه كوم موجب سهو عمل وشونو سجده سهوپرامام هم واجبيږي اوپرمقتدى هم ولي چې پرمقتدى دامام اتباع لازمه ده ولي چې په اقتداء كولوسره ده پرخپل ځان اتباع لازمه كړي ده ،اوكه امام سجده سهوونه كړه نومقتدى به يې هم نه كوي ولي چې يواځې مقتدى سجده سهوكوي نوله امام څخه مخالفت لازميږي حال داچې ده دامام په متابعت كې دلمانځه اداء كولو التزام كړى وو.

(۲۷۷)قوله لابسهوه اى لايجب السجدة بسهو المقتدى ،يعنى كه له مقتدى څخه داقتداء په حالت كې كوم موجب سهوعمل وشونو ددي په وجه سره نه پرامام سجده سهولازميږي اوپرمقتدى ولي چې يواځې مقتدى سجده سهوكوي نوله امام څخه مخالفت راځي اوكه امام هم له ده سره سجده سهوكوي نوداصل تابع والى لازميږي يعنى امام كوم چې اصل ووهغه به تابع شي اومقتدى كوم چې تابع ووهغه به اصل شي .

(۲۷۸)يعنى كه چا په څلور ركعتي يادري ركعتي فرض لمنځونو كې اوله قعده پريښوده اوبيا ورياد شوه نو دوه صورتونه دي (۱)يابه داكس قعود(ناستي)ته ديرنژدې وي په دې ډول چې ده به خپل زنګنونه له ځمكې څخه نه وي اوچت كړي اويابه قيام ته ديرنژدې وي په دې ډول چې ده خپل زنګنونه اوچت كړي وي نوكه اول صورت وي نوبيرته دې كښيني اوتشهد دې ووايې ولي چې قريب الشئ دشئ په حكم كې وي اوپه دې صورت كې داصح قول مطابق پرده سجده سهو نشته . كمافى ردالمحتار: ۱\۵۵۰.يعنى اذاعادقبل ان يستقم قائما وكان فى القعود اقرب فانه لاسجود عليه فى الاصح وعليه الاكثر واما اذاعاد وهو الى القيام اقرب فعليه سجود السهو .اوكه دوهم صورت وو نونه دې راګرځي بلكه دريم ركعت ته دې ولاړشي ولي چې قريب الشئ دشي حكم اخلي ،بس په دوهم صورت كې پر ده سجده سهو واجب ده ولي چې واجب يعنى قعده اولى يې ترك كړي ده.

ف:دبعض علماؤ رأيه داده چې ترڅو پوري دلمونځ كونكى نصف اسفل (يعنى لاندې نيمه حصه) سيده نه وي نوقعود ته ديرنژدې دى اوكله چې نصف اسفل سيده شي نوهغه قيام ته ديرنژدې شمارل كيږي دنصف اعلى اعتبارنشته ،ظاهرالرواية اوراجح داده چې ترڅوچې بالكل سيده ونه دريږي نوقعود طرف ته دې بيرته عود وكړي اوكه بالكل سيده ودريدى نوبيادې نه راګرځي ،باقى دسجدې مدارپرقرب اوعدم قرب باندې دى يعنى قعودته دقريب والى په صورت كې په راګرځيدونكى سجده سهونشته اوقيام دنژدې والى په صورت كې سجده سهو لازمه ده لمافى حاشية الطحطاوى:(قوله وهو الى القيام اقرب الخ)ظاهره انه ان لم يستو قائما يجب عليه العود،لم يفصل فى سجود السهو فان كان الى القيام اقرب سجد له ،وان كان الى القعود اقرب لا ،فحكم السجود متعلق بالقرب وعدمه ،وحكم العود متعلق بالاستواء وعدمه (حاشية الطحطاوى :ص ۳۸).وقال الشيخ عبد الحكيم الشاه ولى كوټوى الشهيد رح:والصحيح الراجح عند المحققين ماقال فى الدر المختار ونور الايضاح حيث قال وان سها عن القعود الاول من الفرض ثم تذكر عاد اليه مالم يستقم قائما فى ظاهر المذهب وهو الاصح وان استقام قائما فلايعود ويسجد للسهو والحاصل انه يعود سواء كان اقرب الى القعود اوالى القيام لكن يجب عليه سجود السهو فى الثانى ولايجب فى صورة الاولى وعليه المشى فى نور الايضاح والتنوير والمواهب والبرهان وتصريح الحديث الذى ذكر ابوداؤد .(هامش الهداية: ۱\۱۴۱)

(۲۷۹)يعنى كه يو چا قعده اخيره پريښوده مثلا په څلور ركعتي لمانځه كې پنځم ركعت ته ولاړشو نوترڅوپورې چې يې پنځم ركعت په سجده سره مقيد كړى نه وي قعده ته دې بيرته راوګرځي ولي چې

دقعدي طرف ته په بيرته راګرځيدلو كې ده دلمانځه اصلاح ده او ده لره دلمانځه اصلاح ممكنه هم ده په دې وجه چې تريوه ركعت په كم لمانځه پرينبودلو كې څه مضائقه نشته ،او پنځم ركعت دي كړي ولې چې دا شخص دقعدي طرف ته راګرځيدلى دى دكومي چې محل تر پنځم ركعت مقدم دى او قاعده ده چې لمونځ كونكى په لمانځه كې له يو فعل څه هغه فعل ته راوګرځي چې هغه ترمرجوع عنه مقدم وي نو مرجوع عنه فعل لغو كيږي ،اوپه اخركې دي سجده سهو وكړي ولې چې ده فرض عمل يعنى قعده آخره مؤخره كړي ده .

(٢٨٠) فَإِنْ سَجَدَ بَطَلَ فَرْضُهُ بِرَفْعِهِ وَصَارَتْ نَفْلًا فَيَضُمُّ إِلَيْهَا سَادِسَةً (٢٨١) وَإِنْ قَعَدَ فِي الرَّابِعَةِ ثُمَّ قَامَ يَظُنُّهَا الْقَعْدَةَ الْأُولَى عَادَ وَسَلَّمَ (٢٨٢) وَإِنْ سَجَدَ لِلْخَامِسَةِ تَمَّ فَرْضُهُ وَضَمَّ إِلَيْهَا سَادِسَةً لِتَصِيرَ الرَّكْعَتَانِ لَهُ نَفْلًا وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ

ترجمه :اوكه يې سجده وكړه نو باطليږي ده فرض لمونځ له سجدي څخه دسرپه اوچتولو سره اونفل ګرځي نويوځاى دي كړي شپږم ركعت ،اوكه كښينستى په څلورم ركعت بيا ولاړشو نوراودي ګرځي اوسلام دي وګرځوي ،اوكه يې سجده وكړه دپنځم ركعت نوپوره شول دده فرض اويوځاى دي كړي له هغه سره شپږم ركعت ترڅودوه ركعته نفل شي اوسجده سهودي وكړي .

تشريح :(٢٨٠)اوكه يې پنځم ركعت په سجده سره مقيد كړنوداامام محمد رحمه الله په نزد څرنګه چې دى له سجدي څخه سراوچت كړي نودده فرض باطليږي ولې چې دفرض لمانځه داركانو له پوره كولو وړاندي دي كس په نفلو شروع وكړه دكوم لپاره چې له فرضو څخه خروج لازمي دى او داركانو له پوره كولو وړاندي په خروج عن الفرض سره لمونځ فاسديږي. اودشيخينو رحمهما الله په نزد دا لمونځ نفل ګرځي لهذا دلمونځ كونكي لپاره مستحب ده چې له دي سره شپږم ركعت يوځاى كړي كه څه هم دعصر لمونځ وي ،ترڅوداكس دطاق ركعتونفلواداء كونكى نه شي ولې چې طاق ركعتونه نفل مشروع نه دي .

ف:اوكه يې شپږم ركعت ورسره يوځاى نه كړنوپرده هيڅ نشته ولې چې دا قصداً په پنځم ركعت.كې شروع نه ده شوي لهذا پرده اتمام لازم نه دى ،اواصح داده چې پرده سجده سهونشته ولې چې دفسادپه شان نقصان جبيره په سجده سهو سره نه كيږي كمافى الدر المختار :ولايسجد للسهو على الاصح لان النقصان بالفساد لاينجبر (الدر المختار على هامش ردالمحتار: ١\٥٥٢)

(٢٨١)او كه په څلورم ركعت باندي په قدر دتشهد كښينستى بيا دسلام ګرځولو پر ځاى پنځم ركعت ته ولاړشو نوتر څو چې يې پنځم ركعت په سجده سره مقيد كړى نه وي بيرته دي قعدي ته راوګرځي ولې چې دده پرذمه سلام پاتي دى اودقيام په حالت كې سلام مشروع نه دى ،اوپه مشروع طريقه سره سلام ګرځول ممكن دي په دي دول چې دقعدي لورته بيرته راوګرځي لهذا دقعدي طرف ته راګرځيدل ضروري دي ليكن دقعدي طرف ته له راګرځيدلووروسته دي دتشهداعاده نه كوي بلكه دتاخيرسلام په وجه سره دي سجده سهو وكړي اوسلام دي وګرځوي .

(٢٨٢)اوكه په مذكوره بالا صورت كې يې پنځم ركعت په سجده سره مقيد كړنو استحبابا دي له دي سره شپږم ركعت يوځاى كړي ولې چې طاق ركعت نفل اداء كول مكروه دي ،اودده فرض پوره شول ولې چې اخيري قعده په خپل محل كې موجوده شوه صرف دتاخيرسلام په وجه سره سجده سهو واجبيږي او اخيري

دوه ركعته نفل كيږي ،دامام شافعي رحمه الله په نزدده لمونځ پوره شوی نه دی بلكه قعودته دي بيرته راوګرځي اوسلام دي وګرځوي ولی چې سلام ګرځول دده په نزد فرض دي .

(۲۸۳)وَلَوْ سَجَدَ لِلسَّهْوِ فِي شَفْعِ التَّطَوُّعِ لَمْ يَبْنِ شَفْعًا آخَرَ عَلَيْهِ (۲۸۴)وَلَوْ سَلَّمَ السَّاهِي فَاقْتَدَى بِهِ غَيْرُهُ فَإِنْ سَجَدَ صَحَّ وَإِلَّا لَا (۲۸۵)وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَإِنْ سَلَّمَ لِلْقَطْعِ

ترجمه:او كه چاسجده سهو وكړه دنفلوپه دوو ركعتو كې نو بناء دي نه كوي دنورودوو ركعتو پر دوئ، او كه سلام وګرځاوه دهيري والاپه ده پسي اقتداء وكړه يو چانو كه ده سجده سهو وكړه نو اقتداء صحيح ده كه نه نو صحيح نه ده ،او سجده سهو دي وكړي كه څه هم يې سلام ګرځولی وي دقطع لمانځه په نيت سره .

تشريح :(۲۸۳)كه څوک په دوه ركعته نفلو كې سهو شو اوپه اخير كې سجده سهو هم وكړه نو اوس دي پرهغو دوركعتو دمزيدونفلوبناء نه كوي ،بلكه كه نفل اداء كوي نودهغه لپاره دي مستقله تحريمه وكړي ولی چې دبناء په صورت كې سجده سهو باطليږي ولی چې دلمانځه په منځ كې كيږي حال داچې سجده سهو دلمانځه په اخير كې وي.

(۲۸۴)كه دامام پرذمه سجده سهو واجب وه هغه (يعنی امام)سلام وګرځوی په دې وخت كې يو بل كس په امام پسې اقتداء وكړه نوكه امام سجده سهو وكړه نوددې بل كس اقتداء صحيح شوه ولی چې تراوسه پورې دامام لمونځ باقي دی اوكه امام سلام وګرځوی اوسجده سهو يې نه وكړه بلكه هغه يې دتحليل سلام وګرځوی نودهغه اقتداء صحيح نه ده ولی چې امام دسلام ګرځولو په وجه له لمانځه څخه خارج شو لهذا اوس دهغه اقتداءكول صحيح نه دي.

(۲۸۵)كه دچاپر ذمه سجده سهو وي ده دلمانځه دختمولو لپاره سلام وګرځوی نو اوس دي هم سجده سهو وكړي ولی چې سجده سهو دده په ذمه لازمه ده ولی چې پر چاسجده سهو لازمه وي نو دهغه سلام بالاتفاق دلمانځه قاطع نه دی په دې شرط چې له قبلې يې مخ ونه ګرځوي اوخبرې ونه كړي ولی چې دا سلام قاطع كونكی نه دی مشروع شوی او كوم شئ چې قاطع كونكی نه وي مشروع شوی هغه لمونځ نه قطع كوي لهذاده نيت لغو دی كمافي تنوير الابصار :وسجد للسهو ولو مع سلامه للقطع ما لم يتحول عن القبلة او يتكلم لبطلان التحريمة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: ۱\۵۵۵)

ف:كه امام په دې ګمان سجده سهو وكړه چې پرده سجده سهو واجب ده وروسته معلومه شوه چې سجده سهو واجب نه وه، نو داصل قاعدې مطابق دمسبوق لمونځ فاسديږي مګر په ائمه مساجدو كې دغلبه جهل په وجه سره دعدم فساد فتوی ده، په دې وجه كه مسبوق په داسې صورت خبرشي نوخپل لمونځ دې راوګرځوي.(احسن الفتاوی،۲۸\۴،و الشامي،۱\۵۶۰)

(۲۸۶)وَإِنْ شَكَّ أَنَّهُ كَمْ صَلَّى أَوَّلَ مَرَّةٍ اسْتَأْنَفَ (۲۸۷)وَإِنْ كَثُرَ تَحَرَّى وَإِلَّا أَخَذَ بِالْأَقَلِّ (۲۸۸)وَلَوْ هَمَّ فَصَلَّى الظُّهْرَ أَنَّهُ أَتَمَّهَا فَسَلَّمَ ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ أَتَمَّهَا وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ

ترجمه:كه لمونځ كونكی ته په لمانځه كې شک پيداشو چې څو ركعته مې اداء كړي دي اوداالومړی ځل وونوله سره دي لمونځ وكړي ،اوكه شک ډيرپيښيدو نوتحري دي وكړي كه نه نو اقل دي اخلي ،وهم

پيدا شو د ماپښين د لمانځه اداء کونکی ته چې ده لمونځ پوره کړی دی نو ده سلام وګرځاوه بيا ورته معلومه شوه چې ده دوه رکعته اداء کړي دي نو پوره دي کړي او سجده سهو دي وکړي.

تشريح:(۲۸۶) که لمونځ کونکی ته په لمانځه کې شک پيدا شو چې دري رکعته شوي دي او که څلور او دا لومړی ځل وُ چې ده شک پيدا شوی وو يعنی سهو دده عادت نه وه نو په دي صورت کې دې کښيني سلام دي وګرځوي او له سره دي دلمانځه اعاده وکړي ،لِقَوْلِهٖ صلى الله عليه وسلم ﴿وإذا شك احدكم في صَلاتِهٖ أنّهٗ كَمْ صلى فَلْيَسْتَقْبِلِ الصَّلاةَ﴾ (که په تاسو کې يوه ته په لمانځه کې شک پيدا شو چې څو رکعته مې کړي دي نو هغه دي لمونځ له سره راوګرځوي).

ف :دا په هغه صورت کې ده چې لمونځ کونکی له لمانځه څخه فارغ شوی نه وي او که له لمانځه څخه د فارغيدلو وروسته يا بقدر تشهد له کښينستلو وروسته دا شک پيدا شو نو دده پر ذمه هيڅ نشته که څه هم له سلام ګرځولو وړاندي وي ،هو که ده ته يو عادل کس وويل چې تا د ماپښين لمونځ څلور رکعته نه دی کړی او دی د هغه په صدق او کذب کې شکمن شو نو احتياطا دي لمونځ راوګرځوي .كمافي الشاميه (قوله في صلوته) قال في فتح القدير قيد به لانه لو شك بعد الفراغ منها او بعد ما قعد قدر التشهد لا يعتبر .... نعم يستثنى ما في الخلاصة لو اخبره عدل بعد السلام انك صليت الظهر ثلاثا وشك في صدقه يعيد احتياطا (ردالمحتار: ۱\۵۵۷).

(۲۸۷) او که لمونځ کونکی ته په کثرت سره شک پيښيدی نو ددي دوه صورتونه دي يا خو به دا کس په غور او فکر کولو سره کوم يوه طرف ته ترجيح ورکولی شي او يا به يې نه شي کولی که ده يوه طرف ته ترجيح ورکړه او د هغه په باره کې يې ظن غالب هم وو نو د ظن غالب مطابق عمل دي وکړي..لِقَوْلِهٖ صلى الله عليه وسلم ﴿مَن شَكَّ في صَلاتِهٖ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ﴾ (که يو چا ته په لمانځه کې شک پيدا شو نو هغه دي د صواب په باره کې غور او فکر وکړي)ددي او مخکني روايت په منځ کې څه تعارض نشته ولی چې هغه مخکنی روايت په هغه صورت محمول دی چې لمونځ کونکی ته په لومړي ځل شک پيدا شوی وي او دا روايت په هغه صورت محمول دی چې لمونځ کونکی ته په لمانځ کې دير ځله شک پيښيږي ،همدا شان په کثرت سره د عروض شک په صورت کې په له سره راګرځيدلو کې حرج دی ،او که يې له فکرا و غور کولو وروسته هم يوه طرف ته ترجيح نه شوای ورکولی نو بيا دي په هغه يقيني يعنی اقل باندي عمل وکړي نو که په څلورو او درو رکعتو کې شک وونو دري دي اختيار کړي ولی چې همدا متقين دي.

(۲۸۸) که يو څوک د ماپښين په لمانځه کې په دوو رکعتو باندي کښينتی بيا د هغه دا خيال شو چې ما څلور رکعته کړي دي نو ده سلام وګرځوی بيا هغه ته معلومه شوه چې دوه رکعته يې اداء کړي دي نو که ده له سلام ګرځولو وروسته داسې عمل نه وو کړی چې په هغه لمونځ فاسديږي نو اوس دي دوه رکعته نور له دي سره يو ځای کړي او لمونځ دي پوره کړي په آخير کې دي سجده سهو وکړي ولی چې په هيره سره سلام ګرځول قاطع الصلوة نه دی په دي وجه چې سلام من وجه دعاء ده، البته که ده داسې عمل وکړ چې په هغه سره لمونځ فاسديږي نو بيا دي بيرته لمونځ راوګرځوي ولی چې کوم دوه رکعته يې کړې وو هغه د قاطع الصلوة عمل په وجه سره فاسد شول .كمافي تنوير الابصار :سلم مصلى الظهر مثلا على راس الركعتين توهما اتمها اربعا وسجد للسهو لان السلام ساهيا لا يبطل لانه دعاء من وجه (تنوير الابصار على هامش ردالمحتار: ۱\۵۵۲)

ف: مسبوق دې د سجده سهو په سلام كې دامام متابعت نه كوي بلكه بغير له سلامه دې سجده سهو وكړي كه مسبوق سلام وګرځوي په داسې حال كې چې دايې هم په ياد وو چې زه مسبوق يم يعنې داورته ياد وو چې دده پر ذمه دلمانځه يو څه حصه پاتې ده نو دده لمونځ فاسديږي البته كه يې سهوا سلام وګرځوي يعنې دايې نه وه ياد چې دى مسبوق دى نو لمونځ يې نه فاسديږي كه يې خپل مسبوقيت ياد وو مګر ددې مسئلې دعدم علم په وجه سره يې سلام وګرځوى نو بيا هم لمونځ ختميږي ولې چې جهالت عذرنه دى (احسن الفتاوى ٢٤\٤) او په كوم صورت كې چې مسبوق سهوا سلام وګرځوي (يعنې دايې نه وه په ياد چې دى مسبوق دى) كه دامام دلفظ سلام دميم سره مسبوق هم دسلام لفظ ميم وو ايو نو سجده سهو نشته ليكن عموما دمقتدې سلام دامام له سلام څخه وروسته وي نو په دې وجه سجده سهو لازمه ده. (احسن الفتاوى: ٢٨\٤)

بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيضِ

داباب دمريض دلمانځه په بيان كې دى

مصنف رحمه الله دمريض دلمانځه ذكر له سجده سهو وروسته په دې وجه كړى دى چې مرض او سهو دواړه له عوارضو سماويه څخه دي څرنګه چې سجده سهو عامه ده مريض او غير مريض دواړو ته عارضيږي نو په دې وجه يې د سجده سهو بيان مقدم كړ، او په صلاة المريض كې اضافت له قبيلې داضافة الفعل الى فاعله دى ياله قبيلې داضافة المصدر الى فاعله دى. مرض په معنى دسقم دى علامه عينى رحمه الله فرمايي چې مرض هغه معنى ده چې د ژوندي په بدن كې په حلول كولو سره دهغه دطبائعو اربعة و اعتدال خرابيږي.

(٢٨٩) من تَعَذَّرَ عليه القِيَامُ او خافَ زِيَادَةَ الْمَرَضِ صلى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ (٢٩٠) او مُومِيًا اِنْ تَعَذَّرَ وَجَعَلَ سُجُودَهُ اَخْفَضَ (٢٩١) وَلَا يَرْفَعُ اِلَى وَجْهِهِ شَيْئًا يَسْجُدُ عليه فَاِنْ فَعَلَ وهو يَخْفِضُ رَأْسَهُ صَحَّ وَاِلَّا لَا (٢٩٢) وَاِنْ تَعَذَّرَ الْقُعُودُ اَوْمَأَ مُسْتَلْقِيًا او على جَنْبِهِ (٢٩٣) وَاِلَّا اُخِّرَتْ وَلَمْ يُومِ بِعَيْنَيْهِ وَقَلْبِهِ وَحَاجِبَيْهِ

ترجمه: دكوم چاليپاره چې مشكل وي دريدل ياده لره خوف وي دمرض دزياتوالى نو لمونځ دې اداء كړي په ناسته سره په ركوع او سجده، يا په اشاره سره كه ركوع او سجده هم مشكل وي او سجده دې له ركوع څخه ډيره كښته كړي، او نه دې اوچتوي خپل مخ ته يو شئ چې په هغه سجده وكړي او كه ده داسې وكړل او حال داچې ده په سجده كې سر ډير كښته كړ نو بيا هم صحيح ده كه نه نو نه ده، او كه مشكله شوه ناسته نو اشاره دې وكړي په ستوني ستغ څملستلو سره يا په اړخ څملستلو سره، كنه لمونځ دې مؤخر كړاى شي او اشاره دې نه كوي په ستر ګو سره، په زړه سره او په وريځو سره.

تشريح: (٢٨٩) كه مريض په ولاړه سره دلمانځه په اداء كولو قادر نه وي يا قادر خووي مګر دضرر خطره وي په دې ډول سره چې دناروغي دزياتيدلو ويره وي نو په ناسته دې په ركوع او سجده سره لمونځ اداء كړي ولې چې طاعت دطاقت په اندازه وي.

ف: دا حكم په هغه وخت كې هم دى چې په ولاړه سره دلمانځه په اداء كولو كې دناروغي داوږدوالى ويره وي يا دروغتيا دځنډ ويره وي كه يې خپله تجربه وي او يا كه كوم پوه طبيب ورته وو ايي يا يې سر ګرځي يا د قيام په

وجه سره شديد دردمومي كمافي شرح التنوير (اوخاف زيادته اوبطء برئه بقيامه اودوران رأسه اووجدلقيامه الماشديدا)قال ابن عابدين(قوله خاف)اى غلب على ظنه بتجربة سابقة اواخبار طبيب مسلم حاذق(ردالمحتار: ۱\۲۵۹)

(۲۹۰)قوله مومياان تعذراى صلى مومياان تعذر الركوع اوالسجود . يعني كه يې دركوع اوسجدې كولو قدرت نه درلود نوبيادې ركوع اوسجده په اشاره سره اداءكړي لمامرّ .البته د سجدې داشارې پروخت دې سرپه نسبت دركوع اشارې ته ډيركښته كوي ولې چې اشاره دركوع اوسجدې قائم مقامه ده لهذا دسجدې اوركوع په حكم كې به وي .

(۲۹۱)مگريوشى بالښت وغيره تندې ته په راپورته كولوسره دې په هغه سجده نه كوي ولې چې نبي كريم ﷺ له دې څخه منع فرمايلې ده لهذاكوم شئ دسرطرف ته پورته كول مكروه تحريمي دې .كه چاپياهـ داسې وكړل چې بالښت وغيره يې پورته كړاوپه هغه يې سجده وكړه نوكه په سجده اوركوع كې سركښته كيدونوصحيح ده ولې چې اشاره متحققه شوه.قوله والاالاى ان لم يخفض رأسه بل وضع المرفوع على وجهه فلايصح.يعني كه سرنه كښته كيدوبلكه صرف يې هغه شى په تندې كښيښودپركوم چې سجده كوي نوصحيح نه ده ولې چې اشاره متحققه نه شوه .

ف:او كه بالښت وغيره پر ځمكه ايښى وي اولمونځ كونكى دعذر په وجه پر هغه سجده كوي نوبيابلاكرهت جائزده، كمافي الشامية(قوله ولايرفع الى وجهه شيأيسجدعليه فانه يكره تحريما)اقول هذامحمول على مااذاكان يحمل الى وجهه شيأيسجدعليه الخ فان كانت الوسادة موضوعة على الارض وكان يسجدعليهاجازت صلوته(ردالمحتار: ۱\۵۶۱)

(۲۹۲)كه مريض پرناسته هم قدرت نه درلودكه يې حقيقة نه درلوداوكه يې حكمانه درلوديعني په ناسته سره دمرض دزياتيدلويااوږديدلوويره وه نوپرخپله شادې څملي يعني ستونى ستغ اولمونځ دې اداء كړي اوترسرلاندې دې بالښت كښيږدي ترڅواشاره ممكنه وي اوپښې دې دقبلې طرف ته كړي كه كيداى شي نوزنگنونه دې ودروي پښې دې نه غځوي ترڅودقبلې طرف ته دپښولـه غځولوڅخه وساتل شي .اوكه مريض په اړخ څملاست اوپه اشاره سره يې لمونځ اداء كړي په دې ډول چې دده مخ دقبلې طرف ته وي نوهم جائزدى ﴿لحديث عمران بن حصين ﷺ قال كانت بى بواسير فسألت النبى ﷺ عن الصلوة فقال ﷺ صلّ قائمافان لم تستطع فقاعدافان لم تستطع فعلى جنبك﴾(يعني عمران بن حصين ﷺ فرمايي زمادبواسيرو مرض وو نومادلمانځه په باره كې له حضور ﷺ څخه پوښتنه وكړه نو حضور ﷺ راته وفرمايل چې په ولاړه يې وكړه يياكه دې دولاړي قدرت نه وو نوبيايې په ناسته سره اوكه ددې استطاعت نه وونوبياپه اړخ په څملستلوسره لمونځ اداء كړه) همدا شان داوجه هم ده چې انسان دخپل طاقت په اندازه په طاعت مكلف وي .

ف:ليكن په مذكوره دوصورتونوكې اول صورت اولى دى ولې چې دستوني ستغ والاسجده داسمان طرف ته وي اوكعبه تراسمانه پوري ټولې فضاء ته شامله ده ،په خلاف داړخ څملستونكي چې دهغه سجده دپښوطرف ته وي كمافي الشامية (قوله والاول افضل (لان المستلقى يقع ايمانه الى القبلة والمضطجع يقع منحرفاعنها وبه ورد الاثر.(ردالمحتار: ۱\۵۶۲)

(۲۹۳)قوله والااخرت ولم يؤم بعينه وقلبه وحاجبيه اى وان لم يستطع الايماء براسه اخرت عنه الصلوة ولم يؤم بعينه وقلبه وحاجبيه،يعني كه مرض دومره زيات شوچې په سرداشارې كولوقدرت هم پاتې نه شونولمونځ دې

مؤخرکړای شي لیکن په سترګو ،زړه اوورېږوسره اشاره کول کافی نه ده ولی چې اشاره په حقیقت کې درکوع اوسجدي بدل ده اوبدل په رأیه اوقیاس سره مقررول ممنوع دی اوپه حدیث شریف کې صرف په سرسره داشاري ذکردی نه دسترګووغیره داشاري.

ف، مصنف رحمه الله په لفظ اُخرت سره اشاره وکړه چې لمونځ له ده څخه نه ساقطیږي بلکه قضاء به یې راوړي که څه هم لمونځونه زیات وي په دې شرط چې دده هوش اوحواس سم وي حال داچې دځینو حضراتو په نزدکه تریوي ورځې اوشپې زیات لمونځونه دعذرپه وجه سره قضاء شول نوقضاء لازمه نه ده همدا صحیح ده اوپرهمدې فتوی ده کمافی الدر المختار:وان تعذر الایماء براسه وکثرت الفوائت بان زادت علی یوم ولیلة وسقط القضاء عنه وان کان یفهم فی ظاهر الروایة وعلیه الفتوی ،فی ردالمحتار:فصحح الاول کعامة اهل الترجیح کقاضی خان وصاحب المحیط وشیخ الاسلام وفخر الاسلام ومال الیه المحقق ابن الهمام ومشی علیه المصنف لانه ظاهر الروایة. (الدر المختار علی هامش الشامیة: ۵۶۲/۱)

ف:دلمانځه وخت تنګیږي نودویده کس راویښول واجب دي البته که داکس مریض ووا وپه راویښولو کې دتکلیف خطره وه نوراویښول واجب نه دي .(احسن الفتاوی :۳/۲۴)

(۲۹۴)وَإِنْ تَعَذَّرَ الرُّكُوعُ وَالسُّجُودُ لَا الْقِيَامُ أَوْمَأَ قَاعِدًا(۲۹۵)وَلَوْ مَرِضَ فِي صَلَاتِهِ يُتِمُّ بِمَا قَدَرَ(۲۹۶)وَلَوْ صَلَّى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ فَصَحَّ بَنَى (۲۹۷)وَلَوْ كَانَ مُومِيًا لَا

ترجمه :اوکه سخته شوه رکوع اوسجده نه قیام نوپه اشاره سره دی وکړي په ناسته ،اوکه څوک مریض شي په لمانځه کې نو(څرنګه چې ممکنه وي)لمونځ دي پوره کړي ،اوکه یې لمونځ کوی په ناسته سره بیاروغ شونوبنا دي وکړي ،اوکه اشاره کونکی وونوبناء دي نه کوي .

تشریح :(۲۹۴)که څوک داسې ناروغ شي چې پرقیام خوقادروي لیکن په رکوع اوسجده کولو قادرنه وي نوپرده قیام لازم نه ده بلکه دی دي په ناسته په اشاره سره لمونځ اداء کړي ولی چې قیام په دې وجه رکن دی چې درکوع اوسجدې کولو وسیله وي نوقیام درکوع اوسجدي تابع دی نوکله چې له قیام څخه وروسته رکوع اوسجده نه وي نو هغه قیام به رکن هم نه وي .

ف:دامام زفراوامام شافعی رحمه الله په نزدبه داکس په ولاړه سره په اشاره لمونځ کوي ولی چې درکوع اوسجدې دساقطیدلوپه وجه قیام نه ساقطیږي ولی چې له یوه رکن څخه دعاجزوالی په وجه بل رکن نه ساقطیږي ،اختلاف په اولویت کې دی لهذاداحنافوپه نزدددې کس په ولاړه سره په اشاره لمونځ اداء کول هم جائزدی لیکن په ناسته سره اشاره کول څرنګه چې اشبه بالسجود دی ولی چې په ناسته سره په اشاره کولو کې سرځمکې ته ډیرنژدې وي په ولاړه تراشاري کولو څخه په دې وجه افضل دی .

(۲۹۵)که روغ کس دلمانځه یوه حصه په ولاړه اداء کړه بیادلمانځه په منځ کې داسې مرض وریپیښ شونوڅرنګه چې یې قدرت وي لمونځ دي پوره کړي اول خودې کښینې اوپه رکوع اوسجده سره دې لمونځ پوره کړي اوکه یې درکوع اوسجدې قدرت هم نه وونودرکوع اوسجدې اشاره دې وکړي اوکه یې په ناسته هم قدرت نه شوپاتې نوپه سیده پریوتلودې لمونځ پوره کړي ولی چې په دې درې واړه صورتونوکې دادنی حالت بناء پراعلی کړل شوي ده نوداجائزده لکه چې دادنی حال والااقتداء چې په اعلی حال والاپسې جائزده

ف: له امام ابو حنیفه رحمه الله څخه يو روايت دادی چې په دلمانځه په منځ کې دناروغې ورپېښېدونکی کس دي له سره بيرته لمونځ اداء کړي ولې چې دده تحريمه داسې منعقده شوي ده چې رکوع او سجده واجبونکې ده نوله رکوع او سجدي څخه بغير جائزنه ده .مګرقول اول ډيرصحيح دی ولې چې بعض لمونځ په رکوع او سجده او بعض لمونځ په اشاره سره کول اولی دی له دي څخه چې ټول لمونځ په اشاره سره اداء کړي كمافي الشامية:(قوله على المعتمد)وعن الامام انه يستقبل لان تحريمته انعقدت موجبة للركوع والسجود فلاتجوز بالايماء قال في النهر والصحيح المشهور هو الاول لان بناء الضعيف على القوى اولى من الاتيان بالكل ضعيفا (ردالمحتار: ١/٥٦٣)

(٢٩٦)که چاد مرض په وجه په ناسته دلمانځه يوه حصه په رکوع او سجده سره اداء کړه بيا دلمانځه په منځ کې روغ شو او په ولاړه قادر شو نو د شيخينو په نزد په ولاړه سره پر خپل لمانځه بناء وکړي ولې چې دلمانځه داخيري حصې بناء پر اوله حصه داسې ده لکه دمقتدی دلمانځه بناء دامام پر لمانځه باندي نو چيرته چې اقتداء صحيح وي هلته به بناء هم صحيح وي نو څرنګه چې دشيخينو په نزد دقائم اقتداء په قاعد پسې صحيح ده نو دحالت قيام دلمانځه بناء دحالت قعود په لمانځه باندي هم صحيح ده،دشيخينو قول راجح دی كمافي الدر المختار:ولوصلى قاعدابركوع وسجود فصح بنى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار: ١/٥٦٣)

ف: دامام محمد رحمه الله په نزد داکس په ولاړه سره بناء نه شي کولی بلکه له سره به بيرته لمونځ اداء کوي وجه يې داده چې دامام محمد رحمه الله په نزد دقائم اقتداء په قاعد پسې صحيح نه ده نو دحالت قيام دلمانځه بناء هم دحالت قعود پر لمانځه صحيح نه ده .

(٢٩٧)قوله ولوكان مؤميالا اى ولوكان المريض مؤميا للركوع والسجود لم صح لاينبي بل يستانف،يعنی که کوم مريض دلمانځه يوه حصه په اشاره سره اداء کړه بيا دلمانځه په منځ کې پر رکوع او سجده قادر شو نو دائمه ثلاثه په نزد به داکس له سره بيرته لمونځ اداء کوي ولې چې د رکوع او سجده کونکی اقتداء په اشاره کونکی پسې صحيح نه ده ولې چې په دي کې دقوی بناء پر ضعيف لازميږي نو په اشاره سره داداء شوي لمانځه بناء هم پر رکوع او سجده والا لمانځه باندي صحيح نه دی.

ف: که له کوم چاڅخه لمونځ قضاء کيدو او دکمزوري په وجه يې اداء نه کړای شو نو په ژوند کې کفاره نه شي اداء کولی بلکه څرنګه چې وي قضاء دي راوړي که دريدلی نه شوای نو په ناسته يا پريوتلو څرنګه چې يې قدرت وي که يې يو قسم هم اداء نه کړنو د مرګ پر وخت وصيت لازم دی له يوه ثلث ترکه څخه به فديه ورکول کيږي .(فتاوی محموديه: ٧/٥٦٧)

(٢٩٨)وَلِلْمُتَطَوِّعِ أَنْ يَتَّكِئَ عَلَى شَيْءٍ إِنْ أَعْيَا (٢٩٩)وَلَوْ صَلَّى فِي الْفُلْكِ قَاعِدًا بِلَا عُذْرٍ صَحَّ (٣٠٠)وَمَنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ أَوْ جُنَّ خَمْسَ صَلَوَاتٍ قَضَى وَلَوْ أَكْثَرَ لَا

ترجمه:اونفل اداء کونکی لره جائزده چې تکيه وکړي پر يو شئ باندي که ستړی شوی وي ،اوکه يې لمونځ اداء کړ په کشتۍ کې په ناسته سره بلا عذره نو صحيح دی،اوکوم کس چې بې هوشه شي يا ليونی شي تر پنځو لمونځونو پوري نو قضاء دي راوړي او که له پنځو لمونځونو څخه زيات وي نو قضاء دي نه راوړي .

تشريح :(٢٩٨)که نفل کونکی دنفل لمانځه په اداء کولو سره ستړی شو نو ده لره په کوم شي تکيه لګول جائزده ولې چې داعذر دی او که يې دتکيه لګولو لپاره کوم شئ و نه موند نو بيا دي کښيني ،او که يې بلاعذره

تکيه ولګوله نومکروه ده ولی چې بلاعذره تکيه لګول بې ادبی ده ،البته کراهت تنزيهی دی تحريمی نه دی کمافی الشامية:لمافيه من اساءة ادب وظاهره انه ليس فيه نهی خاص فتكون الكراهة تنزيهية (ردالمحتار: ١/٥٦٣)

(٢٩٩)که چاپه کښتۍ کې بلاعذره په ناسته لمونځ اداء کړنو دامام صاحب په نزد دا جائزدی حال داچې دصاحبينو په نزدجائزنه دی ولی چې قيام په لمانځه کې رکن دی اوقدرت موجوددی لهذاقيام پرېښودل جائزنه دی ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادی چې په کښتۍ کې دوران راس غالب دی غالب کالمتحقق دی ،هوپه ولاړه سره دامام صاحب په نزدهم افضل دی لانه ابعدعن شبهة الخلاف.

ف:دصاحبينوقول راجح دی کمافی الدرالمختار:صلى الفرض فی فلک جار قاعدا بلاعذر صح لغلبة العجز واساء وقالا لايصح الابعذر وهوالاظهر،قال ابن عابدين :والاظهران قولهمااشبه فلاجرم ان فی الحاوی القدسی وبه ناخذ(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: ١/٥٦٣)

ف:مذکوره بالااختلاف په هغه کښتۍ کې دی کومه چې دسمندرپر غاړه تړل شوي نه وي بلکه روانه وي اوکومه کښتۍ چې دسمندرپرغاړه تړل شوي وي په هغه کې بلاعذره په ناسته لمونځ اداء کول بالاتفاق جائزنه دي کمافی شرح التنوير:(والمربوطة فی الشط كالشط)فی الاصح ،قال ابن عابدين :فلاتجوز الصلوٰة فيهاقاعدااتفاقا(ردالمحتار: ١/٥٦٣)

ف:دسمندرپه ژوروا وبو کې ولاړه کښتۍ که دبادونوپه وجه سره په شديداضطراب کې وي نوداسې کښتۍ درواني کښتۍ په حکم کې ده يعنی په دي کې په ناسته لمونځ کول جائزدی اوکه په شديداضطراب کې نه وي نوبياپه غاړه دولاړي کښتۍ په حکم کې ده يعنی په دي کې بلاعذره په ناسته سره لمونځ اداء کول جائزنه دی کمافی التنوير:(والمربوطة بلجة البحران كان الريح يحركهاشديدافكالسائرة والافكالواقفة)(ردالمحتار: ١/٥٦٣)

(٣٠٠)که کوم کس تر پنځولمونځو پورې يا له دي څخه ترلږ وپوري بې هوشه وونودده پرذمه ددي قضاء شويولمونځوقضاء راوړل واجب دي .اوکه له پنځولمونځوڅخه زيات بې هوښه وونوددي قضاء شويولمونځونو قضاء نشته ولی بې هوشې چې کله اوږده شي نوقضاء شوي لمونځونه ديرېږي نودحائضي په شان ددي په قضاء راوړلوکې حرج دی اوحرج شرعاً مدفوع دی .اوکه مدت اغماء کمه وي نولمونځونه کم وي دکومو په قضاء راوړلوکې چې هيڅ حرج نشته لهذاداکس دنائم په څيردی په دي وجه ددي لمونځوقضاء راوړل پرده واجب ده ،همدرازمروی ده چې حضرت علی رضی الله عنه ترڅلورو لمونځو پوري دبې هوش پاتې کيدلووروسته دلمونځوقضاء راوړه ،اوحضرت ابن عمر رضی الله عنه تريوي ورځې اوشپې دزيات بې هوش پاتې کيدلووروسته دقضاء شويولمونځوقضاء رانه وړه .

ف:ليکن که دچاعقل دشرابو ،بنګووغيره منشياتوپه وجه سره زائل شونودده پرذمه دلمونځوقضاء لازمه ده که څه هم تريوي ورځې اوشپې زيات بې هوشه پاتې شي ولی چې په دي وخت کې دده دهوش زائلوالی دګناه په وجه سره دي په دي وجه دتخفيف مستحق نه دی ،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدددواء په وجه سره دبې هوش کس څخه هم قضاء نه ساقطيږي ولی چې سقوط قضاء خوله اثرڅخه ثابته ده په دي صورت کې چې بې هوشي دآفت سماوی په وجه سره وي لهذاپردي داسې بې هوشي قياسول صحيح نه دی کومه چې په خپله دده له فعل څخه موجوده شوي وي ،حال داچې دامام محمد رحمه الله په نزدددواء په صورت کې هم قضاء

ساقطیږي ولی چې ددواء استعمال مباح دی نو دا د مرض په شان ده کمافي شرح التنویر: (زال عقله ببنج او خمر) اودواء (لزمه القضاء وان طالت) لانه بصنع العباد کالنوم قال ابن عابدین: (قوله لانه بصنع العباد) ای سقوط القضاء عرف بالاثر اذا حصل بآفة سماویة فلایقاس علیه ما حصل بفعله وعند محمد یسقط القضاء (ردالمحتار: ۱/۵۶۴)

ف: دآپریشن لپاره مریض بې هوشه کوي نو که بې هوشي یوه ورځ او شپه یا له دې څخه کمه وه نو په دې وخت کې به دلمونځو قضاء راوړي او که ده شپږم لمونځ وخت هم دبې هوشي په حالت کې تیر شو نو په دې صورت کې اختلاف دی په دې وجه قضاء کول بنه دي دا حکم په خپل اختیار سره دبې هوشه کولو دی، په قدرتي بې هوشي کې که له پنځو لمونځو څخه زیات قضاء شي نو بالاتفاق ددې لمونځو قضاء معاف ده. (احسن الفتاوی: ۴/۵۱)

باب سجود التلاوة

داباب دسجده تلاوت په بیان کې دی

مناسبه خبره خو دا وه چې سجده تلاوت یې له سجده سهو څخه فورا وروسته ذکرکړي وای ولی چې له داوړو څخه هریوه سجده ده مګر څرنګه چې دمریض لمونځ دسهو په شان دعارض سماوي په وجه دی په دې وجه یې له سجده سهو څخه وروسته صلوة مریض بیان کړ نو لازما دسجده تلاوت بیان مؤخر شو په سجود التلاوة کې اضافت له قبیلې داضافت الحکم الی سببه دی ولی چې دسجده تلاوت سبب تلاوت دی.

دلته دمصنف رحمه الله دتلاوت دلفظ په ذکر کولو کې دې خبرې ته اشاره ده چې که دسجده تلاوت آیت ولیکی نو پرده سجده نه واجبیږي، اودسجده دادا، کولو شرطونه هغه دي کوم چې دلمانځه شرطونه دي ماسوا له تحریمې او دتعیین له نیت څخه، او دسجده سبب بالاجماع تلاوت دی په همدې وجه سره دتلاوت طرف ته منسوبیږي، او دسامعینو په حق دتلاوت اوریدل شرط دي همدا صحیح دی.

سجده تلاوت زموږ په نزد واجب او دامام شافعي رحمه الله په نزد سنت مؤکده ده دده دلیل دادی چې حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه دنبی کریم ﷺ په مخکې دسوره النجم تلاوت وکړ لیکن نه زید ابن ثابت رضی الله عنه سجده وکړه او نه نبی کریم ﷺ سجده وکړه. ددې په ځواب کې موږ ویلی شو چې ممکنه ده چې نبی کریم ﷺ صرف په همدې وخت سجده نه وي کړې وروسته دې کړې وي نو په دې کې دنه واجبوالی هیڅ دلیل نشته ولی چې فی الفور سجده واجب نه ده، زموږ دلیل دادی چې ټول آیتونه ددې په واجبوالی دلالت کوي ولی چې ټول ایتونه پردرې قسمه دي یو قسم خو هغه دي په کوموکې چې دسجدې کولو صریح امر دی او امر دوجوب لپاره دی دوهم قسم هغه دي په کوموکې چې دانبیاء علیهم السلام فعل مذکور دی او دانبیاء علیهم السلام اقتداء واجب ده او دریم قسم هغه دي په کوموکې چې دکفارو سرکشي بیان شوې ده او ددوئ مخالفت کول واجب دی، همدارازد نبی کریم ﷺ ارشاد دی «السجدة علی من سمعها وعلی من تلاها» (یعنی سجده پر اوریدونکی او تلاوت کونکی دواړو واجب ده)، په حدیث شریف کې دعلی لفظ دی کوم چې پروجوب دلالت کوي.

(۳۰۱) تجب في أربع عشرة آية منها أولى الحج وص على من تلا ولو إماما أو سمع ولو غير قاصد (۳۰۲) أو مؤتما (۳۰۳) لا بتلاوته (۳۰۳) ولو سمعها المصلي من غيره سجد بعد الصلاة (۳۰۵) ولو سجد فيها أعادها (۳۰۶) ولو سمع من إمام فأتم به قبل أن يسجد سجد معه (۳۰۷) وبعده لا وإن لم يقتد به سجدها (۳۰۹) ولم تقض الصلاتية خارجها

ترجمه: سجده تلاوت واجبېږي په څوارلس ايتونو سره له كومو څخه د سوره حج داولنى ايت سجده ده اودوهمه دسوره ص ده پر هغه كس واجبېږي كوم چې تلاوت وكړي كه څه هم امام وي يايې واوري كه څه هم بلاقصده وي، يامقتدى وي، نه دمقتدى په تلاوت سره، كه آيت سجده واوريدى لمونځ كونكى له بل چاڅخه نوسجده دي وكړي له لمانځه څخه وروسته، اوكه يې په لمانځه كې سجده وكړه نو هغه دي بيرته راوګرځوي نه لمونځ، اوكه چاله امام څخه آيت سجده واوريدى بيا ده په امام پسې اقتداء وكړه له سجده كولو څخه وړاندې نوسجده دي وكړي له امام سره، اوكه يې له سجده كولو څخه وروسته اقتداء وكړه نوسجده دي نه كوي اوكه يې اقتداء ونه كړه نوسجده دي وكړي، اوقضا به نه رواړل كيږي په لمانځه كې دواجب شوي سجدي له لمانځه څخه دباندې.

تشريح: (۳۰۱) دڅوارلس آيتونو په وجه سجده تلاوت واجبېږي يعنى په قرآن مجيد كې دسجدې آيتونه څوارلس دي – نمبر۱. په نهمه سپاره سوره اعراف كې آيت نمبر ۲۰۶ –/نمبر۲. په ديارلسمه سپاره سوره رعدكې آيت نمبر ۱۵ – /نمبر۳ په څوارلسمه سپاره سوره نحل كې آيت نمبر ۵۰ –/نمبر۴ په پنځلسمه سپاره سوره اسرائيل كې آيت نمبر۱۰۹ –/نمبر۵ په شپاړسمه سپاره سوره مريم كې آيت نمبر۵۸ –/نمبر۶. په اولسمه سپاره دسوره حج اولنى سجده آيت نمبر۱۸ –/نمبر۷. په نولسمه سپاره سوره فرقان كې آيت نمبر۶۰ –/نمبر۸. په نولسمه سپاره په سوره نمل كې آيت نمبر ۲۶ –/نمبر۹ په يوويشتمه سپاره سوره سجده كې آيت نمبر۱۵ –/نمبر۱۰. په درويشتمه سپاره سوره ص كې آيت نمبر۲۴ – /نمبر۱۱. په پنځه ويشتمه سپاره سوره حم سجده كې آيت نمبر۳۸ –/نمبر۱۲. په اوويشتمه سپاره سوره نجم كې ايت نمبر۶۲ –/نمبر۱۳. په ديرشمه سپاره سوره انشقاق كې آيت نمبر۲۱ – /نمبر۱۴. په ديرشمه سپاره سوره علق كې آيت نمبر۱۹.

ف: دا بايد ياد وساتل شي چې دسوره حج دوهمه سجده داحنافو په نزد واجب نه ده دشوافعو په نزد واجب ده دشوافعو دليل دحضرت عقبه بن عامر ﷺ حديث دى ﴿ان رسول الله ﷺ قال فضلت الحج بسجدتين من لم يسجدهما لم يقراهما﴾ (يعنى سوره حج ته په دووسجدوسره فضليت وركړل شوى دى چاچې دادواړه ونه كړي ګوياهغه نه دى ويلى)، داحنافو دليل دادى چې له حضرت ابن عمر ﷺ اوابن عباس ﷺ څخه منقول دي قالا سجدة التلاوة في الحج هي الاولى والثانية سجدة الصلوة (يعنى په سوره حج كې سجده تلاوت اوله ده دوهمه دلمانځه سجده صلوة ده)، دشوافعو ددليل ځواب وركړل شوى دى چې په روايت كې داتصريح نشته چې دواړه سجدې دتلاوت دي لهذادي دامطلب كيداى شي چې اوله سجده دي دتلاوت وي اودوهمه دلمانځه. دسوره ص سجده دشوافعو په نزد واجب نه ده داحنافو په نزد واجب ده ولې چې له حضرت ابن عباس ﷺ څخه مروى ده چې نبى كريم ﷺ په سوره ص كې سجده وكړه، دسوره ص اوسوره حج په سجدو كې له شوافعو سره اختلاف دى په دې وجه مصنف ﷫ ددې دوو په باره كې تصريح وكړه.

(۳۰۲)په پورته ذکرشويو څوارلس ځايونوکې سجده کول پرويونکي اوسامع دواړوواجب ده که څه هم امام وي خواه که سامع دسماع قصدکړي وي اوکه يې نه وي کړی ولی چې دنبی کريم ﷺ په ارشاد ﴿السجدة على من سمعها وعلى من تلاها﴾ (يعنی سجده پراوريدونکی اوتلاوت کونکی دواړولازمه ده) کې سجده په قصدباندي مقيده نه ده لهذا پرهر اوريدونکي واجب ده ،اوکه چاله کوم ويده يابې هوش يامجنون څخه آيت سجده واوريدی نوديوه روايت مطابق پرده سجده واجب نه ده مگراصح داده چې واجب ده كمافي اللباب في شرح الكتاب :ولوسمعهامن نائم اومغمی عليه اومجنون ففيه روايتان اصحهمالاتجب لكن صحح في الخلاصة والخانية وجوبهابالسماع من النائم (اللباب في شرح الكتاب على هامش الجوهرة: ۱/۱۰۳)

ف :له ټيپ ريکارډر،کمپوټرسيډی ،ټی وی ،اوريډيو څخه که چاآيت سجده واوريدی نوپرده سجده تلاوت نه واجبيږي ولی چې په دې شيانوکې محفوظ شوی اوازدقاری اصل اوازنه دی بلکه عکس اونقل دی لهذا داله طوطی څخه داوريدل شوی آيت سجده په حکم کې دی قال ابوبكرابن مسعودالكاسانی : بخلاف السماع من الببغاء والصدى فان ذالك ليس بتلاوة وكذااذاسمع من المجنون لان ذالك ليس بتلاوة صحيحة لعدم اهليته لانعدام التمييز (بدائع الصنائع :۱/۴٦۷)،البته په ريډيواوټی وی که دقاری اصل اوازبراه راست (ژوندی) نشرکيدو (خپريدو)نوپرسامع سجده تلاوت لازميږي ولی چې په دې صورت کې دادقاری اصل اوازګرځول شوی دی .

ف :له مميزيعنی پوه نابالغ څخه دآيت سجدې په اوريدلوسره پرسامع سجده تلاوت واجبيږي .(احسن الفتاوی ۴/۶۲:)

(۳۰۳)قوله اومؤتماای يجب لوكان السامع مؤتماوان لم يسمع حقيقة ،يعنی که امام دسجدې آيت تلاوت کړنوامام دې په لمانځه کې فوراسجده وکړي اوله امام سره دې مقتدی هم سجده وکړي ولی چې مقتدی داقتداء په نيت کولوسره دامام متابعت پرځپل ځان لازم کړی دی نوکه سجده ونه کړي نوله امام څخه مخالفت لازميږي.

(۳۰۴)قوله لابتلاوته ای لايجب بتلاوة المؤتم لاعليه ولاعلی امامه ،يعنی که مقتدی دسجدې دآيت تلاوت وکړنو دشيخينوپه نزدپرامام اومقتدی دواړوسجده تلاوت نشته .نه دلمانځه دننه اونه له لمانځه څخه وروسته ،دامام محمد رحمه الله په نزدبه دواړه له لمانځه څخه وروسته سجده کوي ولی چې سبب سجده يعنی تلاوت ياسماع موجودشواوله لمانځه څخه وروسته کوم مانع هم نشته نوسجده کول پردواړولازم دي ،دشيخينودليل دادی چې دامام شاته مقتدی لره قراة شرعاممنوع دی اوکوم کس چې له کوم تصرف څخه منع شوی وی دهغه دتصرف هيڅ حکم نه وي لهذادمقتدی دقراة هيڅ حکم نشته نوپرمقتدی سجده تلاوت واجب نه ده اوکله چې پرتالی سجده واجبه نه ده نوپرسامع يعنی امام به هم واجبه نه وي ،اوکه کوم خارجي کس واوريدله نوصحيح داده چې پرده سجده لازمه ده ولی چې حجرخودامام اومقتدی په حق کې ثابت دی دخارجي په حق کې نشته .

ف :دشيخينوقول راجح دی كمافي التنوير:ولوتلاهاالمؤتم لم يسجدالمصلي اصلالافي الصلوة ولابعدهابخلاف الخارج لان الحجرلبت لمعنيين فلايعدوهم (التنوير على هامش الشامية: ۱/۵٦٦)

(۳۰۵)که کوم لمونځ کونکی دلمانځه په حالت کې له کوم داسې کس څخه دسجدې آیت واوریدو کوم چې له ده سره په لمانځه کې شریک نه دی نو دا اوریدلو په حالت کې دې سجده نه کوي ولې چې داسجده دلمانځه سجده نه ده په دې وجه چې دده دسجدې آیت اوریدل دلمانځه له افعالو څخه نه دی، البته له لمانځه څخه وروسته سجده تلاوت کول واجب ده ولې چې سبب سجده یعنی دآیت سجده سماع موجود شو لما قال العلامة ابن عابدین: ولو سمع المصلی من غیره لم یسجد فیها بل بعدها (ردالمحتار: ۱/۵۶۶)

(۳۰۶)که ده بیا هم په لمانځه کې دننه سجده وکړه نو دا معتبر نه ده ولې چې په لمانځه کې دننه سجده کول دمنهی عنه والی په وجه سره ناقصه ده او کامل واجب په ناقص اداء کولو سره نه اداء کیږي او دلمانځه اعاده دې نه کوي ولې چې صرف سجده کول داحرام لمانځه سره منافی نه ده او په لمانځه کې له یوه رکعت څخه ذکم اضافه مفسد صلوة نه ده لما فی تنویر الابصار: ولو سمع المصلی من غیره لم یسجد فیها بل یسجدها بعدها ولو سجد فیها لم تجزئه وإعادة دونها ای الصلوة، قال ابن عابدین: (قوله دونها) وهو ظاهر الروایة وهو الصحیح وفی روایة النوادر تبطل به الصلوة ولیس بصحیح (تنویر الابصار علی هامش ردالمحتار: ۱/۵۷۲)

(۳۰۷)که چاله امام څخه آیت سجده واوریدی بیا ده امام له سجدې کولو څخه وړاندې ده په دامام اقتداء وکړه نو اوس به له امام سره داکس هم سجده کوي ولې چې که دې کس آیت سجده نه وای اوریدلی هم به پرده دامام په متابعت کې سجده کول لازم وای نو کله چې ده آیت سجده هم واوریدی نو په طریقه اولی سره به لازمه وي.

(۳۰۸)قوله وبعده لا ای وان اقتدی بعدما سجد الامام لا یسجد المقتدی لا ای الصلوة ولا بعد الفراغ منها، یعنی که امام سجده تلاوت وکړه وروسته دې کس په امام پسې اقتداء وکړه نو اوس به داکس دسجدې اعاده نه په لمانځه کې کوي او نه له لمانځه څخه وروسته ولې چې ده له امام سره رکعت وموندی نو ده داسجده هم وموندله لکه چې کوم کس دوترو په اخیري رکعت کې له امام سره شریک شې نو درکعت موندلو په وجه داکس دعاء قنوت لره هم موندونکی شمارل کیږي، همدارازپه دې وجه هم چې داکس نه په لمانځه کې سجده کولی شې ولې چې دامام مخالفت لازمیږي اونه خارج له لمانځه ولې چې صلاتیه سجده پرغیرصلوتیه سجده فضلیت لري او قاعده ده چې کامل واجب په ناقص اداء سره نه اداء کیږي، اوکه دې کس دامام اقتداء ونه کړه نو سجده دې وکړي ولې چې دسجدې سبب دده په حق کې موجود شو.

(۳۰۹)کومه سجده چې دلمانځه په حالت کې واجب شې خواه که یې په خپله تلاوت وکړیایې له امام څخه آیت سجده واوریدی نو داسجده له لمانځه څخه دباندې په اداء کولو سره نه اداء کیږي ولې چې صلوتیه سجدې لره په غیرصلوتیه سجدې فضلیت حاصل دی، همدارازدلمانځه دجزء والی په وجه سره دې ته کمال حاصل شو او کامل واجب په ناقص اداء سره نه اداء کیږي.

(۳۱۰)وَلَوْ تَلَاهَا خَارِجَ الصَّلَاةِ فَسَجَدَ وَأَعَادَهَا فِيهَا سَجَدَ أُخْرَى (۳۱۱)وَإِنْ لَمْ يَسْجُدْ أَوَّلًا كَفَتْهُ وَاحِدَةٌ (۳۱۲) كَمَنْ كَرَّرَهَا فِي مَجْلِسٍ لَا فِي مَجْلِسَيْنِ (۳۱۳) وَكَيْفِيَّتُهُ أَنْ يَسْجُدَ بِشَرْطِ الصَّلَاةِ بَيْنَ تَكْبِيرَتَيْنِ بِلَا رَفْعِ يَدٍ وَتَشَهُّدٍ وَتَسْلِيمٍ (۳۱۴) وَكُرِهَ أَنْ يَقْرَأَ سُورَةً وَيَدَعَ آيَةَ السَّجْدَةِ لَا عَكْسُهُ

ترجمه: او که يې آيت سجده تلاوت کړله لمانځه څخه دباندي او دهغه لپاره يې سجده وکړه بيايې دوهم ځل آيت سجده راوګرځاوو په لمانځه کې نو دوهمه سجده دي وکړي، او که اول ځل سجده ونه کړه نو دي لره يوه سجده کافي ده، لکه چې څوک څوځله ايت سجده ولولي په يوه مجلس کې نه په دوو مجلسونو کې، او دسجدي طريقه داده چې سجده دکړي په شرائطو دلمانځه ددوو تکبيرونو په منځ کې له رفع يدين او تشهد او سلام څخه بغير، او مکروه ده چې سورة ولولي او آيت سجده پرېږدي نه ددي عکس.

تشريح: (۳۱۰) که چاآيت سجده تلاوت کړاو سجده يې ادا ءکړه بيايې په همدي مجلس کې لمونځ پيل کړ همدا آيت يې دوهم ځل تلاوت کړ نوله دي څخه وړاند ي شوي سجده کفايت نه کوي بلکه دي لره به بله سجده کوي ولې چې سجده ثانيه دصلاتيه والی په وجه سره قوی ده په دي وجه دسجده اولی دتابع والی په وجه نه اداء کيږي.

(۳۱۱) که چاآيت سجده تلاوت کړاو سجده يې ونه کړه حتی چې په دغه مجلس کې يې لمونځ پيل کړ بيايې په لمانځه کې همداآيت سجده دوهم ځل تلاوت کړاو په لمانځه کې يې سجده تلاوت اداء کړه نو دا سجده دواړو تلاوتونو لره کافي ده ولې چې دوهمه سجده دصلاتيه والی په وجه سره اقوی ده لهذا سجده اولی تابع ده ثانيه متبوع، او متبوع تابع ته متضمن وي.

(۳۱۲) که چاپه يوه مجلس کې يو آيت سجده باربار (بيابيا) تلاوت کړ نو ټولو تلاوتونو لره يوه سجده کفايت کوي ولې چې دسجدو بناء ددفع حرج په وجه پر تداخل ده په دي شرط چې مجلس يو وي، همدارازمروی ده چې حضرت ابوموسی اشعری ﷺ به دکوفی په مسجد کې کېنيستی او خلکوته به يې دقرآن تعليم ورکاوو او که به دسجدي آيت راتلونوهغه به يې هم باربارتلاوت کاوو مګرځرنګه چې مجلس يو وو په دي وجه به يې يوه سجده اداء کوله، او که مجلس يونه وو نوبيا يوه سجده کافي نه ده بلکه په مختلفو مجلسونو کې ديوه آيت په تلاوت کولو سره دهريوه تلاوت لپاره عليحده سجده کول ضروري ده ولې چې په سبب کې تکرار دی.

ف: که داصورت وي چې دتلاوت کونکی مجلس ځيږوي البته دسامع مجلس بدل شوتو بالاتفاق په اوريدونکی باندي وجوب سجده مکرر دی او که دتلاوت کونکی مجلس بدل شو مګر دسامع مجلس بدل نه شو نو ځينو حضراتو په نزد پر سامع وجوب سجده مکرر دی مګر اصح دادی چې مکرر نه دي وعليه الفتوی ولې چې دسامع په حق کې دسجدي دواجب والی سبب سماع ده او دسماع په مجلس کې تکرار نه دی شوی لهذا پر سامع به وجوب سجده هم مکرر نه وي کمافی شرح التنوير: (لو تبدل مجلس سامع دون تال) حتی لو کرر هارا کبا يصلی وغلامه يمشی تتکر علی الغلام لا الراکب (لا) تتکرر (فی عکسه) وهو تبدل مجلس التالی دون السامع علی المفتی به (تنوير الابصار علی هامش ردالمحتار: ۱/۵۷۵)

(۳۱۳) يعنی دسجده تلاوت کيفيت دادی چې کله دسجده تلاوت دکولو اراده وکړي نوله رفع يدين څخه بغير تکبير و وايه سجده وکړه بيا تکبير و وايه سرله ځمکي څخه راپورته کړه ولې چې دادلمانځه پر سجده قياس ده، البته دسجدي تلاوت څخه وروسته نه تشهد شته او نه سلام ولې چې تشهد او سلام دتحليل لپاره مشروع دي او تحليل تقاضا کوي چې وړاندي به تحريمه وي دلته تحريمه معدومه ده

لهذاتحليل به هم نه وي نوتشهداوسلام به هم نه وي ،اودسجده تلاوت لپاره هغه شرطونه دي كوم چې دلمانځه لپاره دي يعنى له احداثو او انجاسو څخه پاكي ،سترعورت او استقبال قبله وغيره .

ف:اصل خو داده چې په حالت قيام كې نيت وكړي ،الله اكبر ووايې او سجده وكړي ليكن كه چاپه ناسته سره په الله اكبر ويلو سجده وكړه نو په دي كې هم څه حرج نشته كما في شرح التنوير:(وهي سجدة بين تكبيرتين) مسنونتين جهرا وبين قيامين مستحبين (الدر المختار على هامش رد المحتار: ١/٥٦٧)

(٣١٤)يعنى هغه ټول سورة تلاوت كول په كوم كې چې آيت سجده وي او آيت سجده پريښودل مكروه دي ولى چې په داسې كولو كې له ايت سجده څخه له اعراض كولو سره مشابهت دى او دبعض قرآن كريم هجران لازميږي كوم چې مكروه دى ،او ددي عكس مكروه نه دى يعنى چې دسورة نورآيتونه پريږدي صرف آيت سجده تلاوت كړي ولى چې په داسې كولو كې اعرض نشته بلكه مبادرت دى ،دامام محمد رحمه الله په نزدبنه داده چې له آيت سجده څخه وړاندي يو يادوه آيتونه ولولې ترڅو چې دآيت سجده دفضليت وهم ليري شي .(كذافى الهداية:١/١٤٨)

ف:كه قاري په دي پوهيږي چې دآيت سجده په ويلو سره خلک په مشقت كې نه واقع كيږي نو بيا په جهر سره ويل مستحب ده كه نه نو بايد اخفاء وكړل شي .(فتح القدير:١/٤٧٨)

بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

دباب دمسافر دلمانځه په بيان كې دى

څرنګه چې دتلاوت په شان دسفرهم انسان كسب كوي په دي وجه يې دسجده تلاوت داحكامو له ذكركولو څخه اوس دسفر احكام شروع كړل ،بيا څرنګه چې تلاوت عبادت دى كه شاذاو نادر دكوم عارض په وجه سره كله عبادت نه وي نو دا بيله خبره ده لكه دريا ء په صورت كې او سفر عبادت نه دى هو دكوم عارض په وجه سره عبادت جوړيدلى شي په دي وجه يې سجده تلاوت مقدمه كړه ،او په صلوة المسافر كې اضافت اضافة الشئ الى شرطه دى او يا اضافة الشئ الى محله دى .

دسفر لغوى معنى مسافت طى كول دي او په اصطلاح دفقهاؤ كې دهغه مسافت طى كولو ته ويل كيږي په كوم سره چې احكام (مثلاً قصر صلوة ،اباحة فطر ،امتداد مدة مسح وغيره)متغير كيږي .

(٣١٥)من جاوز بيوت مصره مريداً سيراً وسطاً ثلاثة أيام في بر أو بحر أو جبل (٣١٦)قصر الفرض الرباعي (٣١٧)فلو أتم وقعد في الثانية صح (٣١٨)حتى يدخل مصره أو ينوي إقامة نصف شهر ببلد أو قرية

ترجمه :كوم كس چې تيرشي دخپل ښار له كورونو څخه په درميانه تګ سره ددريو ورځو دسفر په اراده سره خواه كه په وچه (خشكي)كې وي او كه په درياب كې يا غره كې وي ،نو هغه دي قصر كوي درباعى فرضو ،او كه يې پوره اداء كړل او په دوهم ركعت كېښېنوست نو صحيح دى كه نه نو نه دى ،ترڅو چې داخل شي خپل ښارته يا داقامت نيت وكړي پنځلس ورځې په كوم ښاريا كلي كې .

تشریح:(۳۱۵)یعنی په کوم سفرسره چې احکام متغیرکیږي هغه سفردادی چې انسان په درمیانه تګ سره ددریو ورځو اودریوشپودتګ په اراده سره دښارله آبادي څخه ووځي خواه که سفردخشکې وي اوکه ددریاب وي یادغره وي.ددریو ورځواودریوشپوپرتقدیردلیل دنبی کریم ﷺ حدیث دی﴿یمسح المقیم کمال یوم ولیلة والمسافرثلاثة ایام ولیالیها﴾(یعنی مقیم دې پوره یوه ورځ اویوه شپه مسح کوي اومسافردې درې ورځې اودرې شپې مسح کوي)وجه استدلال داده چې دالمسافر الف لام استغراقی دی نودمسح رخصت هرمسافرته شامل شویعنی هرمسافردرې ورځې اودرې شپې پر مسح کولو قادر دی اوهرمسافردرې ورځې اودرې شپې پرمسح هغه وخت قادریدلی شي کله چې اقل مده دسفردرې ورځې اودرې شپې وي که اقل مدت سفرله دې څخه کم ومنل شي نودهرمسافربه درې ورځې اودرې شپې پرمسح کولو قادروالی ممکن پاتې نه شي حال داچې له حدیث څخه درې ورځې اودرې شپې دهرمسافرلپاره پرمسح کولوقدرت ثابت دی نوثابته شوه چې دسفرکم ترکمه مده درې ورځې اودرې شپې ده،له درمیانه تګ څخه داوښ اوپښوتللو رفتار مراددی.

په خشکې (وچه)دریاب اوغره هریوه کې دهغه ځای سفرمراددی یعنی په دریابې سفرکې به دخشکې رفتارمعتبرنه وي لکه څرنګه چې په خشکې کې ددریابې سفراعتبارنشته بلکه په هرځای کې له هغه سره دلائق رفتاراعتباردی حتی که یوځای ته درسیدلودوه لارې وي یوه دوچې اوبله دریابې ،په خشکې کې ترهغه ځای درسیدلومسافت درې ورځې اودرې شپې دی اوددریاب پرلاره ددوو ورځو مسافت دی نوکه کوم کس دامسافت دوچې پرلاروهې نوده ته به دمسافرورخصت حاصل وي اوکه ددریاب له لارې ولاړی نودرخصت سفربه ورته حاصل نه وي ،حاصل داچې دهرځای له حال سره لائق ددریوورځواوشپوسفرمعتبردی.

ف:اوله ورځې څخه دکال ترټولوکوچنۍ ورځ مراده ده اوځلوریشت ګاټې رفتارمرادنه دی بلکه له سهارڅخه ترزوال پورې رفتارمراددی ولې چې مسلسل تګ کول دانسان په طاقت کې نشته ،نوهره ورځ له سهارڅخه ترزوال پورې کوم منزل ته په رسیدلواواستراحت کولوسره چې په دریوورځواوشپوکې چې څومره مسافت طی شي هغه مسافت سفردی .نوکه چاپه تیزسفرکولوسره له دریوورځواوشپوڅخه په لږوخت کې مسافت سفرطی کړمثلاپه ریل ګاډی ،موټریاپه طیاره کې یې سفروکړاوددریوورځو اوشپومسافت یې په یوه ورځ یایوه ګاټه کې طی کړنوهم به قصرکوي کمافی شرح التنویر:(مسیرة ثلاثة ایام ولیالیها)من اقصر ایام السنة ولایشترط سفر کل یوم الی اللیل بل الی الزوال ....(بالسیر الوسط مع الاستراحات المعتادة)حتی لو اسرع فوصل فی یوم من قصر (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۱/۵۲۹)

ف:دشرعی سفردمسافت په تعیین کې حضرات صحابه کرام ﷺ ،تابعین اوائمه مجتهدین رحمهم الله تعالی سره مختلف دي ،په عمدة القاری شرح بخاری وغیره کې ددې تفصیل موجوددی ،دحضرت امام ابوحنیفه ﷫ روایات هم په دې باره کې مختلف دي مګرصحیح اوراجع دامام صاحب مذهب دادی چې په میلونووغیره به دکوم مقدارتحدیدنه کیږي بلکه په دریوورځوکې په میدانی علاقه کې په پښوبه تګ کولوسره چې انسان څومره مسافت (فاصله)په اسانی سره طی کولی شي هغه مسافت شرعی دی . له امام

صاحب څخه يوروايت دادی چې ده دسفرشرعی مسافت دري منزله مقررکړی دی، صاحب هدایه فرمایي چې ددي حاصل هم تقريباهغه دی کوم چې پورته ذکرشو (یعنی ددريوورځومسافت).

الغرض جمهورمشائخ احنافوپه ميلونوسره دتعيين اعتبارنه دی کړی په دي وجه چې ددريو ورځو مسافت اصل مذهب دی کوم چې دلاري وغيره په اختلاف سره مختلف کيږي ،له همدي سره سره ديروفقهاء کرامودميل اوفرسخ تعيين هم کړی دی اوددوئ اقول هم مختلف دي ،دهندوستان په عامه بلادوکې څرنګه چې لاري تقريباسره يوشان دي ،په دي وجه دهندمحققنوعلماؤدميلونوتعيين کړی دی اواته څلويښت انګريزي ميله يې دقصرمسافت ګرځولی دی ولی چې عندالفقهاءپه معهودو وختونوکې همدومره مسافت په آساني سره پياده مسافرددي ځای په عاموبرابرولاروکې طی کولی شي ....اواته څلويښت انګريزي ميله دچکرورتی په حساب سره د۷۷کلوميټره دوه سوه اته څلويښت ميټره اودوومیلي ميټرو(۷۷کلوميټراو۲۴۸ميټره او۲ملی ميټر)کيږي (تقريباپاوابالا۷۷کلوميټره) په دومره مسافت باندي محقيقين حضرات دقصردواجبيدلوفتوی ورکوي اوداقول دپنځلس فرسخووالاله قول سره قريب قريب دی .

تنبيه :داخبره هم په خيال کې دساتلولائقه ده چې دفرسخ والاقول داحنافواصل مذهب نه دی بلکه تقريبی مقداردی .نوپه همدي اقوالوپه بنيادايښودلوسره دماعداباالکليه نفی کول له روايت اودرايت دواړوڅخه خلاف دي همدارازبعض محقيقين علماء له اته څلويښت ميله څخه دکم اوبعض دزيات قائل دي نوداته څلويښت انګريزي ميله والاقول اعدل اواوسط الاقاويل دی په همدي وجه هم زموږپه نزددي ته ترجيح حاصله ده اوصاحب احسن الفتاوی زاده مجده هم داته څلويښت انګريزي ميله طرف ته رجوع فرمايلې ده ،والله اعلم وعلمه اتم واحکم (مسائل رفعت قاسمی: ۲۷/۳مسائل سفر)

(۳۱۶)يعنی مذکوره بالامسافردي خپل څلوررکعتی لمونځ مختصرکړي اودوه رکعته دي اداء کړي ﴿لقول عائشة رضي الله عنها فرضت الصلوة ركعتين فاقرت صلوة السفر وزيد في الحضر﴾ (یعنی لمونځ دوه رکعته فرض کړل شوی دی نودسفرلمونځ پرهمدي حال باقی پاتې شوی دی اودحضرپه لمانځه کې اضافه کړل شوي دي) اودرباعی په قيدسره له فجراومغرب څخه احترازدی په دي وجه چې په فجراومغرب کې قصرنشته .

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدمسافرته دسفرپه حالت کې داسانی په غرض سره درباعی لمانځه دوورکعتونواداء کولورخصت ورکړل شوی دی مګرپوره څلوررکعته اداء کول افضل دي امام شافعی رحمه الله لمونځ پرروژه قياسوي يعنی لکه څرنګه چې مسافرته په رمضان کې دافطاراجازت دی مګرروژه نيول افضل دی همداشان په رباعی لمانځه کې دقصراجازت اواتمام افضل دی ،مګرامام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې په روژه اولمانځه کې فرق دی ولی چې درباعی فرضوداخيري دوورکعتونوقضاء نشته حال داچې دروژي له افطار کولوڅخه وروسته دهغې قضاء واجب ده په دي وجه درباعی لمانځه پرروژي قياسول صحيح نه دي .

ف: او دسنتونو په باره کې حکم دادی چې که مسافر دامن او قرار په حالت کې وي نو اولی داده چې سنن اداء کړي او که دتلواري او فرار په حالت کې وي نو ترک دي کړي كمافي شرح التنوير: (ويأتي) المسافر (بالسنن) ان كان (في حال امن وقرار و الا) بان كان خوف وفرار (لا) يأتي بها هو المختار لانه ترک لعذر تجنيس قيل الاسنة الفجر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار: ۱/۵۸۵)

(۳۱۷) یعنی که مسافر دوورکعتونو پرځای څلور رکعته اداء کړل او د دتشهد په اندازه په دوهم رکعت کې کښینستی هم نو اولنی دوه رکعتونه فرض او وروستنی دوه رکعتونه نفل شمارل کیږي البته دتاخیر سلام په وجه ګناهګار ېږي، او که بقدر تشهد پر دوهم رکعت نه کښینستی نو دده لمونځ باطلیږي ولی چې دفرضو ارکان نه دي مکمل شوي په دي وجه چې اخیري قعده پاته شوي ده او له تکمیل ارکان څخه وړاندې له فرضو سره دنفل په یوځای کولو لمونځ باطلیږي په دي وجه دده لمونځ باطل شو.

ف: که کوم کس په سفر کې قصدا قصر ونه کړ بلکه پوره لمونځ یې اداء کړ نو دا کس عمدا ترک واجب په وجه سره ګنهګار یږي په دي وجه پر ده توبه او ددي لمانځه اعاده واجب ده (احسن الفتاوی: ۴/۷۷)

(۳۱۸) قوله حتى يدخل مصره، دامصنف رحمه الله دقول قصر لپاره غایه ده ای لایزال یقصر فی سفره الی دخول مصره، یعنی دسفر حکم تر هغه وخت پوري باقی دی تر څو چې دی خپل ښار ته داخل نه شي یا په کوم بل ښار یا کلی کې لږ تر لږه دپنځلسو ورځو یا له دي څخه دزیات قیام نیت ونه کړي نو کله چې دپنځلسو ورځو یا له دي څخه دزیات قیام نیت وکړي نو دسفر حکم ختمیږي او اتمام صلوة لازم دی، ادنی مدت اقامت په ادنی مدت طهر قیاس شوي ده علت مشترکه داده چې طهر او اقامت دواړه موجب دي یعنی لکه څرنګه چې دحیض په وجه سره کوم عبادت ساقط شوی وو د طهر په وجه هغه عود کوي همداشان دسفر په وجه سره ساقط شوی عبادت هم دنیت اقامت په وجه سره عود کوي نو لکه څرنګه چې ادنی مدت طهر پنځلس ورځې دی همداشان به ادانی مدت اقامت هم پنځلس ورځې وي.

(۳۱۹) لا بمكة ومنى (۳۲۰) وقصر ان نوى اقل منه او لم ينو وبقي سنين (۳۲۱) او نوى عسكر ذلك بارض الحرب (۳۲۲) وان حاصروا مصرا (۳۲۳) او حاصروا اهل البغي في دارنا في غيره (۳۲۴) بخلاف اهل الاخبية

ترجمه: نه په مکه او منی کې، او قصر دي کوي که یې نیت وکړ له دي څخه دکم یا یې نیت ونه کړ او تر کلونو پوري په سفر کې پاتې شو، یا نیت وکړ لشکر داقامت په دار الحرب کې، که څه هم هغه محاصره کړي کوم ښار یا محاصره کړي، باغیان په دار الاسلام کې په غیر ښار کې، په خلاف دخانه بدوشو (کوچیانو).

تشریح: (۳۱۹) قوله لا بمكة ومنى اى لا يتم اذا نوى الاقامة بمكة ومنى، یعنی دصحت اقامت لپاره اتحاد مکان شرط دی نو که مسافر په دوو جلا جلا ځایونو کې علی الاشتراک داقامت نیت وکړ مثلا په مکه مکرمه او منی کې یې دپنځلس ورځو داقامت نیت وکړ نو دی به لمونځ پوره نه اداء کوي ولی چې په دوو ځایونو کې نیت اقامت معتبر نه دی په دي وجه چې په دوو ځایونو کې دنیت اقامت دمعتبر والی مقتضی ده چې په څو ځایونو کې هم نیت معتبر شي حال دا چې دا ممنوع ده ولی چې سفر په متعدد و ځایونو کې له قیام کولو څخه خالي نه وي نو که دمتعدد و ځایونو دنیت اعتبار وکړل شي نو ددي مطلب به دا وي چې انسان به کله هم مسافر نه وي حال دا چې داسې نه ده لهذا په متعدد و ځایونو کې داقامت په نیت سره څوک مقیم نه ګرځي، هو که په دي دوو کې په یو

کې دشپې تیرولو نیت وکړي نو په دې مقام کې په داخلیدلو سره مقیم ګرځي ولې چې دانسان مقیم والی دشپې دتیرولو ځای ته منسوب کیږي.

ف:په مکه مکرمه او منی سره یې دومستقلو ځایونو ته اشاره ده چې هریومقام مستقل اصل وي دبل مقام تابع نه وي نو که په دوو مقاماتو کې یو دهغه بل تابع وو مثلاً دښاریو داسې کلی چې په هغه کې له ښار سره دمتصل والی له کبله جمعه واجبه وي نو که چاپه داسې کلي او ښاردواړو کې داقامت نیت وکړ نو داسې کس به مقیم ګڼل کیږي کمافی شرح التنویر:او کان احدهمالبعالللاخر بحیث تجب الجمعة علی ساکنه للاتحاد حکما(الدر المختار علی هامش ردالمحتار:۱/۵۸۲)

(۳۲۰)او که یې په کوم ښارکې ترپنځلسو ورځو کم داقامت نیت وکړنو قصربه کوي ولې چې دسفرحکم برقراردی .او همدا راز سفرپه مابین کې له مختصرو اقامتونو څخه خالي نه وي په دې وجه ترپنځلسو ورځو دکم اقامت اعتبارنشته . همداشان که مسافرکوم ښارته داخل شو او داقامت نیت یې ونه کړبلکه نیت یې داوو چې سبابه ځم یابه بله ورځ ځم حتی چې په دغه نن او سباکې پرده کلونه تیرشول نوداکس به قصرکوي مقیم نه ورته ویل کیږي ولې چې حضرت عبدالله بن عمررضی الله عنهماپه اذربائجان کې شپږمیاشتې تیرې کړي مګرځکه چې حضرت عبدالله ابن عمررضی الله عنهماپه یوه وخت دپنځلسو شپو دتیرولو نیت نه وو کړی په دې وجه هغه قصرکاوو همداشان حضرت انس ﷺ په نیشاپورکې تریوه کاله پورې داقامت دنیت دنیستی له کبله قصرکاوو .

(۳۲۱)قوله اونوی عسکر ذالک بارض الحرب ای ان نوی عسکر الاقامة فی دار الحرب قصر وامطلقا،یعنی که اسلامی لښکردارالحرب ته داخل شو او دپنځلسو ورځو داوسیدلو نیت یې وکړنو ددوئ نیت معتبرنه دی لهذا قصربه کوي ولې چې دپه قراراوتښیته کې متردد دي په دې وجه چې یې شکست وخوړی نوتښتي به او که یې فتح حاصله کړه نو اقامت به کوي لهذا دارالحرب ددوئ په حق کې دارالاقامت نه دی په دې وجه ددوئ دانیت اقامت هم معتبرنه دی .

(۳۲۲)یعنی که اسلامی لښکرپه دارالحرب کې دننه کوم ښاریاقلعه محاصره کړه اودپنځلسو ورځواقامت نیت یې وکړ نوبه بیاهم داخلګ قصرکوي دوئ مقیم نه ګڼل کیږي ولې چې داقامت محل هغه ځای وي چیرته چې انسان لره په حتمی طریقه سره قرارروي دلته خولښکرپه قراراوفرارکې متردد دی په دې وجه چې که شکست یې وخوړی نوتښتي به او که یې فتح حاصله کړه نو اقامت به کوي لهذادادارالاقامت نه دی.

(۳۲۳)همداحکم هغه وخت هم دی چې اسلامی لښکرپه دارالاسلام کې دننه دښارپه ځای په یوه ځنګل کې داسلامی حکومت باغیان محاصره کړی ولې چې دلته هم داسلامی لښکرسپاهیانو ته قرارحاصل نه دی بلکه ممکن ده چې له باغیانو دي شکست وخوری اوودي تښتي او ممکن ده چې فتح دي حاصله کړي اوبرقراردي پاته شي لهذاداسې ځای ددوئ لپاره دارالاقامت نه ګڼل کیږي .

(۳۲۴)قوله بخلاف اهل الاخبیة ای ذلک الحکم المتقدم ملتبس بمخالفة حکم اهل الاخبیة حیث تصح منهم نیة الاقامة،یعنی دا مذکورحکم په خیمو کې داوسیدونکو کوچیانو دحکم مخالف دی چې هغوئ (کوچیان) په ځنګل کې هم

مسافرنه دي بلکه په ځنګل کې هم ددوئ داقامت نیت صحیح دی ولی چې له څرځایه ځخه بل ځرځای ته په منتقل کیدو سره ځوک مسافرنه ګرځي ولی چې اقامت اصل دی اوسفروړباندي عارض وي نوترڅوچې ددریوورځودسفرنیت ونه کړي مسافرنه ګڼل کیږي لهذاکوچیان به خپل لمونځونه پوره اداء کوي قصربه نه کوي،په دي شرط چې له دوئ سره به دومره اوبه اوواښه وي چې داقامت په مده کې دوئ لره کفایت وکړي.

ف،له کوچیانو څخه ماسواکه نورڅوک په ځنګل کې داقامت نیت وکړي نومقیم نه ګڼل کیږي کماقال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولونوی غیرهم الاقامة معهم لم یصح فی الاصح (الدرالمختار:۱/۵۸۳)

ف،کوچیان چې کله دیخ ځای څخه دګرم ځای لورته دباریدوقصدوکړي نوبیامسافرګڼل کیږي په دي شرط چې ددي دواړوځایونوترمنځ به ددریوورځومسافه وي قال شارح التنویر: الااذاقصدواموضعابینهمامدة السفرفیقصرون ان لم یسافراوالالا (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۱/۵۸۳)

(۳۲۵)وَإِنِ اقْتَدَى مُسَافِرٌ بِمُقِيمٍ فِي الْوَقْتِ صَحَّ وَأَتَمَّ (۳۲۶)وَبَعْدَهُ لَا (۳۲۷)وَبِعَكْسِهِ صَحَّ فِيهِمَا (۳۲۸)وَيَبْطُلُ الْوَطَنُ الْأَصْلِيُّ بِمِثْلِهِ لَا السَّفَرِ وَوَطَنُ الْإِقَامَةِ بِمِثْلِهِ وَالسَّفَرِ وَالْأَصْلِيِّ

ترجمه،اوکه مسافرپه مقیم پسي اقتدا وکړه په وخت کې دننه نوداصحیح ده اومسافردي لمونځ پوره وکړي ،اوله وخت څخه وروسته صحیح نه ده ،اوددي په عکس کې دواړه صورتونه صحیح دي ،او باطلیږي وطن اصلی په خپل مثل سره اووطن اقامت په خپل مثل سره اوپه وطن اصلی سره

تشریح ،(۳۲۵)یعنی که مسافرپه وخت کې دننه دمقیم امام اقتداء وکړه نودامسافربه پوره څلوررکعته لمونځ اداء کوي ولی چې مسافردامام دمتابعت التزام کړی دی نوداتباع له امله دده دوه رکعته څلوررکعتونوته متغیرکیږي.

(۲۵۲)قوله وبعده لای لواقتدی بمقیم بعدخروج الوقت لایصح اقتداله ،یعنی که له وخت څخه وروسته په قضاشوي لمانځه کې مسافردمقیم امام اقتداء وکړه نوداجائزنه ده ولی چې دوخت دتیریدلووروسته فریضه نه متغیرکیږي لکه څرنګه چې داقامت دنیت په کولوسره نه متغیرکیږي نوکه په مقیم پسي اقتداء وکړي نوقعده اولی دمسافرپه حق کې فرض ده اودمقیم په حق کې فرض نه ده نودااقتداء المفترض بمتنفل په شان جائزنه ده .

(۳۲۶)قوله وبعکسه صح فیهمای لواقتدی مقیم بمسافرصح فی الوقت وبعدالوقت ،یعنی که مقیم دمسافرامام اقتداء وکړه نوپه وخت کې دننه اودوخت له تیریدلوڅخه وروسته په دواړه صورتونوکې اقتداء صحیح ده امام به په دوه رکعته سلام ګرځوي ولی چې دده لمونځ پوره شواومقیم مقتدی به په انفرادي ډول سره خپل پاته لمونځ پوره کړي ولی چې مقیم صرف په دوو رکعتونوکې دامام دمتابعت التزام کړی وو نودمسبوق په څیربه دی خپل باقی لمونځ انفراداداء کوي مګرڅرنګه چې دی لاحق دی له دکبله به په باقی لمانځه کې قرأة نه وایي .

ف،دمسافرامام لپاره دامستحب ده چې کله سلام وګرځوي نومقتدیانوته دي ووایي چې تاسي خپل لمونځونه پوره کړئ زه مسافر یم ولی چې نبی کریم ﷺ په مکه مکرمه کې سفرپه حالت کې امامت

وکړاوپه اخرکې يې وفرمايل ﴿أَتِمُّوا صَلَاتَكُمْ فَإِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ﴾ (تاسې خپل لمونځونه پوره کړئ موږ مسافریم) مګر بنه خبره داده چې امام له لمانځه شروع کولو څخه مخکې مقتدیانوته داووايي.

(۳۲۸) وطن اصلي په بل وطن اصلي سره باطليږي يعني که دچاکوم ځای وطن وو بيادی له هغه ځايه منتقل شوکوم بل ځای وطن جوړکړييايي سفروکړاوپه خپل پخواني وطن ته داخل شونوکه دپنځلسوورځواقامت نيت يې نه وکړی نوقصربه کوي په دي وجه چې هغه اوس دده وطن نه دی پاتی ولی چې نبی کریم ﷺ اوصحابه کرام ﷺ دمدينه منوري لورته له هجرت کولوڅخه وروسته خپل ځانونه په مکه مسافرګڼل ،مګرله وطن اصلي څخه صرف په سفرکولوياکوم بل ځای وطن اقامت جوړولوسره وطن اصلي نه باطليږي ولی چې دسفراووطن اقامت درجه له وطن اصلي څخه کمه ده اواعلی په ادنی سره نه باطليږي ،نوقاعده داده چې وطن اصلي (يعنی دانسان دپيدائش ځای ياهغه ښارياکلی چې په هغه کې داهل وعيال اوسيږي) په خپل مثل يعنی بل وطن اصلي سره باطليږي نه په سفراووطن اقامت سره.

اووطن اقامت (هغه ښارياکلی په کوم کې چې مسافردپنځلسوورځويازيات وخت تيرلواراده کړی وي هغه ته وطن اقامت ويل کيږي هغه ته وطن سفرهم ويل کيږي) په خپل مثل يعني بل وطن اقامت سره اوپه سفرکولوسره اوپه وطن اصلي دري واړوسره باطليږي په سفرخوپه دي وجه باطليږي چې سفرداقامت ضددی اوقاعده ده چې شی په خپل ضدسره باطليږي، اوپه وطن اقامت اووطن اصلي سره په دي وجه باطليږي چې شی په خپل مساوی اومافوق سره هم باطليږي.

ف:که چيرته کوم کس له خپل اهل وعيال سره په کوټه کې اوسيږي اودده موروپلار،وروڼه خويندي وغيره په کراچې کې اوسيږي اوپه کراچې کې ددي کس ځمکه هم وي نوکه دی کله کراچې ته ولاړی اوده دوري دپنځلسوورځوڅخه دکم وخت اوسيدلواراده وکړه نوداکس به دوري مسافرګڼل کيږي لهذاقصربه کوي.(احسن الفتاوی بتغير:۴/۷۷)

(۳۲۹) وَفَائِتَةُ السَّفَرِ وَالْحَضَرِ تُقْضَى رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعًا (۳۳۰) وَالْمُعْتَبَرُ فِيهِ آخِرُ الْوَقْتِ (۳۳۱) وَالْعَاصِي كَغَيْرِهِ (۳۳۲) وَلَا تَعْتَبَرُ نِيَّةُ الْإِقَامَةِ وَالسَّفَرِ مِنَ الْأَصْلِ دُونَ التَّبَعِ كَالْمَرْأَةِ وَالْعَبْدِ وَالْجُنْدِيِّ

ترجمه: اودسفراوحضرقضاشوي لمونځونه دوه اوڅلوراداء کيږي ،اوپه دي کې دلمانځه داخري وخت اعتباردی، اوګنهګاردغيرګنګهارپه شان دی ،اومعتبردی داصل نيت په سفراواقامت کې نه دتبع نيت لکه ښځه ،نوکراوسپاهي.

تشريح: (۳۲۹) يعنی که له چاڅخه دسفرپه حالت کې څلوررکعتی لمونځ قضاء شواوپه حضرکې يې اداء کاوونودوه رکعته قضاء به اداء کوي اوکه په حضرکې رباعی لمونځ فوت شواوپه حالت سفرکې يې قضاء راوړله نوڅلوررکعته به قضاء اداء کوي ولی چې قضاء داداء مطابق وي يعنی لمونځ چې په کوم شان پرذمه ثابت شي دوخت له تيريدلوڅخه وروسته په دي کې تغيرنه راځي.

ف:که کوم کس په سفرکې دقصرپرځای سهوادټول لمانځه نيت وکړيايې په حضرکې دټول لمانځه پرځای دقصرنيت وکړنوپه لمانځه کې دننه دي دنيت تصحيح وکړي مګرپه ژبه سره دي دنيت الفاظ نه وايي په زړه کې دي نيت وکړي .(احسن الفتاوی:۴/۷۷)

(۳۳۰)قوله والمعتبر فيه اخر الوقت اى المعتبر فى كل واحد من السفر والاقامة اخر الوقت ،يعنى په مقيم او مسافر والى كې دلمانځه داخري وخت اعتباردى ولې چې كله كوم كس په اول وخت كې لمونځ اداء نه كړي نودا دلمانځه لپاره سبب همدااخري وخت دى لهذاپه اخرى وخت كې چې دى په كوم صفت سره متصف وي نوهغه به معتبروي مثلاكه دمازديگرپه اخري وخت كې كوم مقيم مسافرشونودوه ركعته لمونځ به اداكوي كه يې تراوسه لمونځ نه وي كړى اوكه مسافردمازديگرپه اخرى وخت كې خپل ښارته ورسيداوتراوسه يې لمونځ نه وي اداء كړيى نوهغه به څلورركعته اداء كوي .

ف:يوكس دماښام لمونځ اداء كړاوپه طياره كې سپورشواوطياره دمغرب لورته دومره تيزه ولاړه چې لمرييرته ښكاره شونوپه دي كس دماښام لمونځ دوهم ځل اداءكول واجب نه دي اوكه صائم كس روژه ماته كړي وه نوروژه يې هم صحيح شوه مگرتردوهم ځل غروب پوري امساک واجب دى .(احسن الفتاوى :۴/۶۹)

(۳۳۱)يعنى سفركه داطاعت لپاره وي اوكه دمعصيت لپاره وي دواړه په رخصت كې برابردي مثلاكوم غل دسفرپه حالت كې دى اولمونځ اداء كوي نوقصربه كوي ولې چې له كومونصوصوڅخه رخصت ثابت دى هغه على الاطلاق هرمسافرته شامل دي خواه كه پخپل سفركې مطيع وي اوكه عاصى كقوله ﷺ : فرض المسافر ركعتان ؛ (يعنى دمسافرلمونځ دوه ركعته دى .)اوهمداراز نفس سفرمعصيت نه دى ولې چې سفردمسافت دقطع كولونوم دى په كوم كې چې كوم معصيت نشته بلكه معصيت خوله سفرڅخه وروسته وي (لكه غلاكول)يااله سفرسره يوځاى وي (لكه دنوكرتښيدنه)له كوم څخه چې دسفرمشروعيت نه ختميږي .

ف:دامام شافعى رحمه الله په نزددمعصيت سفردرخصت لپاره سبب نشي جوړيداى ولې چې له رخصت څخه مسافرته تخفيف حاصليږي اوتخفيف له داسې شي سره تعلق نشي نيولاى كوم چې سختى واجبوي لهذارخصت له معصيت سره نشي متعلق كيدلاى ،احناف ځواب وركوي چې درخصت سبب معصيت نه دى بلكه سفردى په كوم كې چې څه معصيت نشته .

(۳۳۲)يعنى په مسافروالى اومقيم والى كې داصل نيت معتبردى يعنى كوم شخص چې دبل تابع وي هغه دخپل متبوع په مقيم والى سره مقيم كيږي اودمتبوع په مسافروالى سره مسافركيږي ولې چې دسفراواقامت قدرت اصل ته حاصل دى نه تابع ته لهذادښځې ،غلام اوپوځي دنيت اعتبارنشته ولې چې ښځه دميړه تابع دى غلام دباداراوپوځي داميرتابع دى .

ف:داصل نيت دتابع په حق كې هغه وخت معتبردى چې تابع داصل په نيت خبروي كه نه نو نه ده معتبرولې چې بي له علمه دتابع په حق كې داصل دنيت معتبرول دتابع په حق كې ضرردى نوكه تابع سفرانه لمونځ اداء كړيه داسې حال كې چې متبوع داقامت نيت كړى وو اوحال داچې تابع په هغه باندي خبرنه وو نودده لمونځ صحيح دى اوپرده اعاده لازمه نه ده كمافى التنويروشرحه ولابدمن علم التابع بنية المتبوع فلونوى المتبوع الاقامة ولم يعلم التابع فهومسافرحتى يعلم على الاصح) ولى الفيض وبه يفتى كمافى المحيط وغيره دفعاللضررعنه (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۱/۵۸۸)

ف:جنگي بنديانوته له قرائنوڅخه معلومه شوه چې دوئ به پنځلسوورځوپه دغه ځاى كې بنديان وي نوپردوئ اتمام ضروري دى كه نه نو قصربه كوي .(احسن الفتاوى :۴/۷۹)

ف:يو ځي او مجاهد د خپل امير او والى په هغه وخت كې تابع دى چې كله ده ته له اميره يا والى او يا بيت المال څخه رزق وركول كيږي او كه دا خلك خپل مصرف په خپله كوي نو بيا د دوئ خپل نيت معتبر دى دامير تابع نه دي كمافي تنوير الابصار: والمعتبرنية المتبوع لانه الاصل لاالتابع كامرأة وعبدوجندى اذاكان يرتزق من الامير اوبيت المال قال ابن عابدين الشامي رحمه الله: نعم في الذخيرة ان المتطوع بالجهاد لايكون تبعاللوالي وهو ظاهر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار: ١/٥٨٧)

باب صلاة الجمعة

دا باب د جمعې دلمانځه په بيان كې دى

لفظ جمعه د ميم په سكون او ضمه دواړو سره ويل شوى دى ،جمعه له اجتماع څخه مشتق ده په دې ورځ دخلكو ديوځاى كيدلو له امله ددې نوم جمعه ايښودل شوى دى او يا په دې وجه چې د ادم عليه السلام ټول اولاد به په دې ورځ سره راجمع كړاى شي او يا په دې وجه چې ادم عليه السلام او حضرت حوا ﷺ په دې ورځ په ځمكه سره يوځاى شوي وو .

په جمعه او سفر كې مناسبت دا دى چې په دواړو كې تنصيف صلوة دى په سفر كې تنصيف د سفر په واسطه او په جمعه كې تنصيف د خطبې له امله دى مگر سفر د هر رباعى لمانځه لپاره منصف دى او خطبه صرف د ماپښين دلمانځه تنصيف كوي لهذا جمعه خاص او سفر عام دى او خاص له عام څخه وروسته وي په دې وجه مصنف رحمه الله له صلوة سفر څخه وروسته صلوة جمعه ذكر كړه ،دجمعې لمونځ فرض دى ددې پرېښودل جائز نه دي ولې چې دا په دليل قطعي سره ثابت ده لهذا ددې منكر كافر كيږي .

(٣٣٣)شَرْطُ أَدَائِهَا الْمِصْرُ (٣٣٤)وهو كُلُّ مَوْضِعٍ لَه أَمِيْرٌ وَقَاضٍ يُنَفِّذُ الْأَحْكَامَ وَيُقِيْمُ الْحُدُوْدَ (٣٣٥)أَوْ مُصَلَّاهُ (٣٣٦)وَمِنَى مِصْرٌ لَا عَرَفَاتٌ (٣٣٧)وَتُؤَدَّى فِي مِصْرٍ فِي مَوَاضِعَ (٣٣٨)وَالسُّلْطَانُ أَوْ نَائِبُه

ترجمه: دجمعه د اداء كيدلو له شرائطو څخه ښار دى ،او ښار هغه ځاى دى د كوم لپاره چې حاكم او قاضى وي چې احكام نافذوي او حدود جاري كوي ،يا عيدگاه ،او منى ښار ده نه عرفات ،او اداء كيداى شي په ښار كې په څو ځايونو كې، او د بادشاه يا د هغه د نائب موجود والى شرط دى .

تشريح:(٣٣٣)قوله شرائطها المصر اى شرائط اداء صلوة الجمعة المصر ،يعنى دجمعه داداء كيدلو لپاره زموږ په نزد ښار ضروري دى په كلو او باندو كې جمعه جائز نه ده ولې چې د نبى كريم ﷺ ارشاد دى ﴿لَاجُمُعَةَ وَلَاتَشْرِيْقَ وَلَافِطْرَ وَلَاأَضْحٰى إِلَّافِي مِصْرٍ جَامِعٍ﴾(يعنى جمعه،تكبيرات تشريق،د كوچني اختر لمونځ او دلوى اختر لمونځ جائز نه ده مگر په ښار جامع كې).

ف:امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په كلو او باندو كې هم دجمعه په جواز قائل دي ولې چې له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه مروى ده ان اول جمعة جمعت في الاسلام بعد المدينة ماجمعت بجواثى وهي قرية في البحرين (يعنى په اسلام كې له مدينې منورې څخه وروسته اوله جمعه په جواثى كې اداء كړاى شوه او جواثى په بحرين كې يوه قريه ده).احناف ځواب وركوي چې په حديث شريف كې له قريه څخه مراد كلى نه دى بلكه ښار دى ولې چې د قريه اطلاق پر ښار باندې هم هم كيږي كمافي قوله تعالى ﴿لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ﴾ له قريتين

څخه مرادمکه مکرمه اوطائف دی اومکه مکرمه يقيناښاردی لهذاپه حديث شريف کې هم له قريه څخه
مرادښاردی ،همداراز جواثاء ديوې قلعې نوم دی اوقلعې لپاره حاکم اوعالم ضروري وي په دې وجه
داويل صحيح دي چې جواثاء ښاردی.

(۳۳۴)دمصرتعريف له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه منقول دی چې مصرهغه جامع دی چيرته چې
سړکونه وي ،بازاروي ،حاکم وي چې دظالم اومظلوم ترمنځ انصاف کوي اوعالم وي چې په نويو
پيښيدونکومسائلوکې فتوی ورکوی ،له امام ابويوسف رحمه الله څخه دمصرجامع په باره کې دوه روايتونه
منقول دي /نمبر۱. مصرجامع هغه ځای دی په کوم کې چې اميراوقاضی وي کوم چې احکام جاری کوي
اوشرعی حدودنافذوي ،مراددادی چې دشرعی حدودوپرنفاذقادروي بالفعل جاري کول شرط نه دي
./نمبر۲. مصرجامع هغه ځای دی چې دهغه ځای په ترټولولوی مسجدکې که هغه خلک جمع شي چې
پرفرض ده نوپه هغه مسجدکې نه ځايږي.

ف:دمصرجامع په باره کې له فقهاء کرامو څخه ډيراقوال منقول دي ليکن حقيقت دادی چې مصرله عرفو
اصطلاحاتو څخه دی دکوموچې مدارپرعرف دی اوداخبره هم واضحه ده چې دزماني په تغيرسره په دې
علاموکې هم تغيرراغلی دی په دې وجه چې څومره تعريفات دي هغه دخپلوزمانوپه اعتبارسره دي ،کمافي
فيض الباری:واعلم ان القرية والمصرمن الاشياء العرفية التي لاتكادتنضبط بحال وان نص ولذاترک الفقهاء تعريف المصرعلى العرف
کماذکره في البدائع وانماتوجهواالى تحديدالمصرالجامع فهذه الحدودکلهابعدکونهامصرافان المصرالجامع اخص من مطلق
المصرفقديتحقق المصرولايكون جامعا(فيض الباری: ۲/۳۲۹)

ف:اکثرمتأخرينواحنافوپردې باندې فتوی ورکړي ده چې که دکوم ځای په ترټولولوی مسجدکې که دهغه
ځای هغه ټول خلک چې پرهغوئ جمعه فرض ده راجمع شي نوپه هغه مسجدکې نه ځايږي نوپه داسې ځای
کې دجمعه لمونځ صحيح دی لمافي الفقه الاسلامي وادلته:لكن المفتى به عنداكثرالحنفية ان المصركما قدمناوهومالايسع
اكبرمساجدهااهلهاالمكلفين بالجمعة وهذاشرط وجوب وصحة (الفقه الاسلامي وادلته: ۲/۱۲۹۴)وفي الدرالمنتقى :وقيل مالواجتمع اهله
في اكبرمساجدلايسعهم وعليه فتوى اكثرالفقهاء كمافي المجتبى لظهورالتوالي في الاحكام(الدرالمنتقى: ۱/۲۴۷)

حضرت مولانامفتي محمدکفايت الله صاحب دهلوی ليکی:چې په مالايسع اکبرمساجدوالا
تعريف باندې ډيروحنفی مشائخوفتواورکړې ده دتنفيذاحکام اواقامت حدودوالا تعريف نن صباپه کوم
ښارباندې نه صادقيږي اوقدرت علی التنفيذتاويل هم په اقامت حدودکې صحيح نه دی ولې چې
حدودشرعيه دمروجه قانون ماتحت ممتنع الاقامت دي کوم حاکم حتی چې وايسرائ هم په رجم باندې
قدرت نه لري په لاس پريکولوقدرت نه لري په دې وجه دادجمعه دجوازلپاره مدارحکم جوړول په هيڅ نوع
سره صحيح نه دي الخ دمصرمتعددتعريفونه منقول دي په دې وجه په دې مسئله کې دډيري سختئ موقع
نشته اوددې زمانې مصالح عامه مهمه ددې مقتضی دي چې دجمعه اقامت بندنه شي نوبنه خبره ده
.(کفايت المفتی :۳/۲۴۵)

(۳۳۵)قوله اومصلى المصراى شرط ادائهاالمصراومصلى المصر،يعنی دمصرپه مصلی کې هم دجمعه اقامت
صحيح دی، دښارمصلی عيدګاه وي مګردلته له مصلی څخه فناء ښارمراددہ صرف عيدګاه مرادنه ده اوفناء

ښاردښارشاوخواته ویل کیږي کوم چې له ښارسره متصله اودښاردخلګودمختلفو ضرورتونودپوره کولولپاره وي لکه هدیره،داسانودمنډو میدان،څرځای اوعیدګاه وغیره ،اوپه فناء ښارکې دجمعه دجواز وجه داده چې داهل ښاردضرورتونوپه پوره کولوکې فناء ښاردښارمرتبه لري.

(۳۳۶)منی ښارده ولی چې منی دحج موسم کې ښارجوړیږي ولی چې دحج په موسم کې هلته بازارلګیږي بادشاه یادهغه ځای ناستی هلته موجودوي لهذادشیخینوپه نزدپه منی کې جمعه قائمول جائز ده ، مګرداخترلمونځ دتخفیف له کبله نه اداء کیږي ولی چې په دې ورځ حجاج دحج په مناسکو بوخت وي اووخت ډیرکم وي په کوم کې چې دحج له مناسکوسره سره داختردلمانځه داداء کولوګنجائش نه وي په داسي حال کې چې دامام محمد رحمه الله په نزدځرنګه چې منی یوه ګاون ده لهذاهلته جمعه صحیح نه ده اوعرفات ښارنه ده ولی چې عرفات صرف یوه فضاء ده حال داچې منی کې تعمیرات کورونه اوکوځې دي.

ف:دشیخینوقول راجح دی لمافی تنویرالابصاروشرحه:وجازت الجمعة بمنی فی الموسم فقط لوجودالخلیفة اوامیرالحجاز اوالعراق اومکة ووجودالاسواق والسکک وکذافی ابنیة نزل بهاالخلیفة وعدم التعیدبمنی للتخفیف ولاتجوز بعرفات لانهامفازة (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۱/۵۹۵)

(۳۳۷)په یوه ښارکې په څوځایونوکې دجمعه لمونځ کول جائز دي که ښارلوی وي اوکه کوچنی وي ولی چې په یوځای دټول ښاردخلګوپه رایوځای کیدلوکې حرج دی اوحرج شرعاًمدفوع دی لهذاضرورت په اساس په یوه ښارکې په څوځایونوکې دجمعه لمونځ اداء کول جائز دي اوهمداراز حدیث شریف لاجمعة الافی مصرمطلق دی په کوم کې چې داقیدنشته چې په ښارکې صرف په یوه ځای کې دجمعه رواده کذافی الشامیة :(قوله علی المذهب)فقدذکرالامام السرخسی ان الصحیح من مذهب ابی حنیفة جواز اقامتهافی مصرواحدی مسجدین واکثروبه ناخذلاطلاق لاجمعة الافی مصرشرط المصرفقط (ردالمحتار:۱/۵۹۵)لیکن حتی الامکان بایدیو یوه ځای کې سره راجمع شي اودجمعه لمونځ اداء کړای شي.

(۳۳۸)قوله والسلطان اونائبه مرفوع دی په المصرباندي عطف دی ای شرط اداء صلوة الجمعة السلطان اونائبه یعنی دجمعه داداء کولولپاره دخلیفه یادهغه دنائب موجودوالی ضروري دی ولی چې جمعه په ډیره جماعت سره اداکیږي نوپه دې کې کله کله په تقدم اوتقدیم کې جنجال واقع کیږي مثلایوبه وایې چې زه امامت کوم اوبل به وایې چې زه امامت کوم یوه طائفه به وایې چې موږفلانکی امام جوړوو اوبله به وایې چې یافلانکی امام دی نوداسي فتنودفع کولولپاره دخلیفه یادهغه دنائب وجودضروري دی.

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزددسلطان یادهغه دځای ناستی وجودشرط نه دی ولی چې حضرت عثمان رضي الله عنه دخپل خلافت په اخري وخت کې په مدینه منوره کې محاصره وو اوحضرت علی رضي الله عنه خلګوته دجمعې لمونځ ورکړحال داچې په دې وخت کې حضرت عثمان رضي الله عنه خلیفه وو ،احناف ځواب ورکوي چې کیدای شي حضرت علی رضي الله عنه دحضرت عثمان رضي الله عنه په حکم سره دجمعه دلمانځه امامت کړی وي.

ف:داحنافوپه نزدباندي هم که له بادشاه څخه اجازه اخیستل متعذروو یاکوم ملک (العیاذبالله)دکفاروپه غلبه سره دارالحرب جوړشونوپه دې وخت کې که خلګ دکوم کس په امامت سره دجمعه په اداء کولومتفق شول نوددوئ لمونځ صحیح دی اودسلطان اودهغه دځای ناستی شرط ختمیږي کمافی الهندیة :ولوتعذرالاستئذان من

الامام فاجتمع الناس علی رجل یصلی بهم الجمعة جاز (هندیه: ۱/۱۴۶) ولی فیض الباری: وقد صرح اصحابنا ان الملک اذا صار دار الحرب یحمع بهم من اتفق علیه القوم (فیض الباری: ۲/۲۳۰)

(۳۳۹) ووقت الظهر فتبطل بخروجه (۳۴۰) والخطبة قبلها (۳۴۱) وسن خطبتان بجلسة بینهما وبطهارة قائما (۳۴۲) وکفت تحمیدة او تهلیلة او تسبیحة

ترجمه: او دماپښين وخت ورته شرط دی نو باطليږي په تيريدلو سره دماپښين د وخت، او خطبه شرط ده د جمعې له لمانځه څخه مخکې، او سنت دي دوه خطبې د دوا ړو په منځ کې په يو څه ناسته سره او په پاکې سره او په ولاړه سره، او کافي ده الحمد لله يا لااله الا الله يا سبحان الله ويل

تشریح: (۳۳۹) قوله ووقت الظهر ای شرط اداء صلوة الجمعة وقت الظهر، دجمعی له شرائطو څخه وخت هم دی يعنی د جمعې لمونځ دماپښين په وخت کې صحيح دی د ماپښين د وخت په تيريدلو سره باطليږي ولی چې نبی کريم ﷺ چې کله مصعب ابن نمير مدينه منورې ته وليږ ده او ونو ورته ويې فرمايل ﴿اذا مالت الشمس فصل بالناس الجمعة﴾ (کله چې لمر زائل شي نو خلګو ته د جمعې لمونځ ورکړه) او همدارنګه نبی کريم ﷺ په خپل ټول ژوند کې کله هم نه له زوال څخه مخکې او نه دماپښين دلمانځه دوخت له تيريدلو څخه وروسته اداء کړی دی بلکه هميشه به يې له زوال څخه وروسته جمعه اداکوله لهذا له خروج وخت وروسته جائز نه ده.

الالغاز: ای فریضة یجب ادائها ویحرم قضائها؟ **فقل**: الجمعة (الاشباه والنظائر)

(۳۴۰) قوله والخطبة قبلها ای شرط اداء صلوة الجمعة الخطبة قبلها، يعنی د جمعې له شرائطو څخه يو شرط د خطبې ويل دي لهذا بغيرله خطبې ويلو څخه جمعه نه صحيح کيږي ولی چې نبی کريم ﷺ په خپل ټول ژوند کې يو جمعه هم بغيرله خطبې نه ده اداء کړي، او خطبه د جمعه له لمانځه وړاندې او له زوال څخه وروسته واجب ده ولی چې شرط له مشروط څخه مخکې وي.

(۳۴۱) او دوه خطبې دې ووايې او دواړو ترمنځ دې د دريو ايتونو په اندازه ناستې سره دې فصل وکړې ولی چې دا په تعامل او تو ارث سره ثابته ده، او همدارنګه حضرت جابربن سمره رضی الله عنه فرمايي چې نبی کريم ﷺ به په پيل کې په ولاړه سره يوه خطبه ويله بيايې دضعف په زمانه کې دوه خطبې ويلې او د دواړو په منځ کې به لږ اندازه کښيناسته، او خطبه دې د طهارت په حالت کې په ولاړه سره وايې ولی چې په ولاړه سره خطبه ويل له اسلافو څخه متوارث دی او داذان په شان په خطبه کې هم کې طهارت مستحب دی.

(۳۴۲) د خطبې په مقدار کې د علماو اختلاف دی د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد که يې د خطبې په نيت سره صرف الحمد لله، وويله يا سبحان الله يا لااله الا الله وويله نو مع الکراهت جائز ده، د صاحبينو په نزد دومره اندازه اوږد ذکر ضروري دی کوم ته چې په عرف کې خطبه ويل کيږي لهذا لږ ترلږه بايد د تشهد په اندازه وي. د صاحبينو دليل دادی چې واجب خو خطبه ده او صرف الحمد لله يا سبحان الله يا لااله الا الله ته په عرف کې خطبه نه ويل کيږي د امام ابو حنيفه رحمه الله دليل د الله تعالی ارشاد ﴿فاسعوا الی ذکر الله﴾ (يعنی منډه کړئ د الله ذکر ته) دی په کوم کې د ذکر طويل او قليل کوم تفصيل نشته.

ف: د امام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المختار: وکفت تحمیدة او تحلیلة او تسبیحة للخطبة المفروضة مع الکراهة وفی ابن عابدین (قوله مع الکراهة) ظاهر القهستانی انها تنزیهیة (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۱/۵۹۸، هندیه: ۱/۱۴۶)

ف:دخطبې څه مستحبات دي ،/نمبر١.خطبه دي په دومره لوړاواز سره ووايې چې خلګ يې واوري اوپه دوهمه خطبه كې د ي داولې خطبې څخه اواز لږكښته وي ،نمبر٢.خطبه دي په الحمد لله سره شروع كړي ،/نمبر٣.په خطبه كې دشهادتين وايې ،/نمبر۴.درودشريف دي ووايې ،/نمبر۵.وعظ اونصيحت دي وكړي ،/نمبر۶.دقران كريم دي لږترلږه يو لوى ايت يادري كوچني ايتونه ولولې .

ف:كه خطيب په ناسته سره خطبه ولوستله ياپې بې اودسه خطبه ولوستله ياپې ددواړوخطبوپه منځ كې فصل ونه كړيايې دخطبې دلوستلوپه وخت كې خلكوته شاوركړځولې وه نودحصول مقصودله امله جائزخوده مكردسلفو دعمل دمخالفت له كبله مكروه ده كمافى اللباب (وان خطب قاعدااوعلى غيرطهارة)اولم يقعدبين الخطبتين اواستدبرالناس (جازويكره)لمخالفته المتوارث (اللباب على هامش الجوهرة:١/١١٥)

٣٤٣)وَالْجَمَاعَةُ وَهُمْ ثَلَاثَةٌ سِوَى الْإِمَامِ فَإِنْ نَفَرُوا قَبْلَ سُجُودِهِ بَطَلَتْ (٣٤٤)وَالْإِذْنُ الْعَامُّ (٣٤٥)وَشَرْطُ وُجُوبِهَا الْإِقَامَةُ وَالذُّكُورَةُ وَالصِّحَّةُ وَالْحُرِّيَّةُ وَسَلَامَةُ الْعَيْنَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ (٣٤٦)وَمَنْ لَا جُمُعَةَ عَلَيْهِ إنْ أَدَّاهَا جَازَ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ (٣٤٧)وَلِلْمُسَافِرِ وَالْعَبْدِ وَالْمَرِيضِ أَنْ يَؤُمَّ فِيهَا وَتَنْعَقِدُ بِهِمْ

ترجمه:اوجماعت شرط دى اوهغه دري خلګ دي له امام څخه ماسوانوكه هغوئ وتښتيدل دامام له سجدي كولو څخه وړاندي نوجمعه باطليږي ،اواذن عام شرط دى ،اودجمعې دوجوب له شرائطو څخه مقيم والى ،نروالى ،روغ والى ،ازادوالى ،اودستركواوپښوجوړوالى دى،اوپه چاچې جمعه واجب نه ده كه هغه جمعه اداء كړه نوكفايت كوي دوخت له فرضو څخه ،اودمسافراومريض اوغلام لپاره جائزده چې دجمعې امامت وكړي اوپردوئ باندي جمعه منعقده كيږي .

تشريح:(٣۴٣)قوله والجماعة اى شرط اداء صلوة الجمعة الجماعة ،يعنى دجمعې له شرائطو څخه يوشرط جماعت دى،دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدله امام څخه ماسوالږترلږه ددريومقتديانووجودضروري دى ،دصاحبينوپه نزدله امام څخه ماسوادودمقتديانووجودضروري دى ،اصح قول دادى چې امام محمد رحمه الله له امام ابوحنيفه رحمه الله سره دى ،دامام ابويوسف رحمه الله دليل دادى چې دجمع لغوى معنى يوځاى كيدل دي اوپه دووكې داجتماع معنى سته لهذاله امام څخه ماسوادودو خلكوموجودوالى دجمعې دجوازلپاره كفايت كوي ،اودطرفينودليل دادى چې جمع صحيح دري دي ولى چې دري دنامه اومعنى دواړوپه لحاظ سره جمع ده .

ف:دطرفينوقول راجح دى كمافى الدرالمختارمع الشامية :والسادس الجماعة واقلهاثلاثة رجال ولوغيرالثلاثة الذين حضرواالخطبة سوى الامام لانه لابدمن الذاكروهوالخطيب وثلاثة سواه هذاعندابى حنيفه رحمه الله ورجح الشارحون دليله واختاره المحبوبى والنسفى كذافى تصحيح الشيخ قاسم (الدرالمختارمع الشامية:١/۴٠٠)

ف:مګرسوال دادى چې دامام ابويوسف رحمه الله دقول مطابق هم له امام سره دري جوړيږي ددي ځواب دادى چې جماعت عليحده شرط دى اوامام بيل شرط دى لهذاامام په دي جماعت كې نه شمارل كيږي ،بيادامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دمقتديانووجوداول ركعت تراولې سجدي پوري ضروري دى لهذاكه له اولنى سجدي وروسته مقتديان وتښتي نوامام دي يواځې جمعه پوره كړي.

(۳۴۴) قوله والاذن العام اى شرط اداء صلوة الجمعة الاذن العام للواردين لها ، يعني د جمعې له شرائطو څخه يو شرط دادی چې د جمعې د اداء کولو لپاره به اذن عام وي يعني هر چاته به د راتلو اجازه وي د چا له طرفه به کوم چاته څه مانع نه وي ولې چې جمعه د اسلام له شعائرو څخه ده لهذا د دې د اقامت لپاره عامه اجازه شرط ده ، نو که سلطان له خپلو ساتونکو سره په خپل کور کې جمعه اداء کول وغواړي په کوم کې چې عامو خلګوته اجازه نه وي نو دا جائز نه ده .

ف: که کومه ابادي په دې دول سره وي چې په هغه کې معتدبه خلک اوسيږي او هغه په ښارکې دننه هم وي مګر د دفاعي ، يا انتظامي او يا حفاظتي وجوه له امله دې ابادې ته د هر چا د راتلو اجازه نه وي بلکه هغه ځای ته ننوتل د دې وجوه په اساس د څه خاصو قواعدو پابند وي نو د دې ابادي په کومه برخه کې په داسې ځای کې جمعه اداء کول جائز دي چيرته چې د همدې ابادي خلګوته د راتلو اجازه وي مثلا لويه بندي خانه ، پوځي چاونی ، لويې کارخانې داسې لوی د طيارو ميدان کوم چې په ښارکې دننه وي او په هغه کې سلهاوو خلګ هروخت موجود وي ليکن په هغه کې د ننه کيدلو اجازه د خاصو قواعدو پابنده وي نو په دې ټولو ځايونو کې جمعه جائز ده په دې شرط چې په ښارکې دننه وي او د ټولې کارخانې ، يا د ريل ګاډي د اسټيشن يا د طيارو د ميدان ټولو خلګوته به د جمعې په لمانځه د شامليد و اجازه وي .(فقهی مقالات: ۴/۳۸)

(۳۴۵) پورته ذکرشوي شرطونه د جمعې د صحت وو د جمعې د وجوب شرطونه دادي (۱) مقيم والی په مسافرباندې جمعه واجب نه ده ولې چې د مسافرلپاره جمعه ته په حاضريدلو کې حرج دی (۲) نروالی په ښځه د جمعه لمونځ واجب نه دی ولې چې ښځه د خاوند په خدمت بوخته وي (۳) روغ والی په مريض جمعه واجب نه ده ولې چې په مريض باندې جمعه ته حاضريدلو کې حرج دی (۴) ازادوالی په غلام باندې جمعه واجب نه ده ولې چې غلام د مولی په خدمت باندې بوخت وي (۵) بيناوالی پهړانده باندې جمعه واجب نه دی خواه که هغه کوم لاربښود وي که نه وي ولې چې ړانده لره جمعه ته په حاضريدلو کې حرج دی او قادر بقدرة الغير قادر نه ګڼل کيږي (۶) د پښو روغ والی په ګود باندې جمعه واجب نه ده ولې چې جمعه ته په راتلو کې حرج دی .

ف: علامه شامي رحمه الله فرمايي په داسې ړانده باندې جمعه واجب ده کوم چې په بازارکې بې له لاربښود څخه بې تکليفه ګرځيدای شي او له خلګو څخه له پوښتنې ماسوا کوم مسجد ته تلای شي قال والقول بل يظهرلى وجوبها على بعض العميان الذى يمشى فى الاسواق ويعرف الطرق بلا قائد ولا كلفة ويعرف اى مسجد اراده بلا سوال احد لانه حينئذ كالمريض القادر على الخروج بنفسه بل ربما تلحقه مشقة اكثر من هذا تامل (ردالمحتار: ۱/۶۰۲)

(۳۴۶) که چيرته پورته ذکرشوي خلک له کومو څخه چې جمعه ساقطه ده د جمعې لمانځه ته حاضر شي او له نورو خلګو سره يو ځای د جمعې لمونځ اداء کړي نو د دوئ د وخت فريضه اداء شوه ولې چې له دوئ څخه د جمعې سقوط د حرج له کبله وو نو که چې دوئ حرج او مشقت برداشت کړاو همت يې وکړ د جمعې لمونځ يې اداء کړ نو دا خلک د هغه مسافر په شان شول کوم چې د سفر په حالت کې روژه ونيوله لکه څرنګه چې د هغه روژه صحيح ده همدا شان د دوئ لمونځ هم صحيح دی .

(۳۴۷)قوله وللمسافر والعبد والمريض ان يؤم فيها اى وجاز للمسافر والعبد والمريض ان يؤم في الجمعة ،يعنى په مسافر،غلام او ناروغ وغيره (ماسواله ښځې اونابالغ هلكه)باندي كه څه هم جمعه فرض نه ده بياهم دوئ په جمعه كې امام جوړل جائز دي ولې چې په دوئ باندي دجمعه نه فرض كيدل ددفع حرج لپاره بطوررخصت وو مګركله چې داخلګ جمعه ته حاضرشول اومشقت يې برداشت كړنودالمونځ فرض واقع كيږي اوكله چې ددوئ لمونځ فرض واقع شونودوئ لره امام جوړول هم جائز دي ،همداراز كه صرف همداخلګ له امام سره ودريدل نودجمعه لمونځ جائزدى ولې چې داخلګ دجمعې په لمانځه كې امام جوړيداى شي نوپه طريقه اولى سره مقتدى جوړيداى شي كما في شرح المنير (وتنعقد) الجمعة (بهم) اى بحضورهم بالطريق الاولى. قال ابن عابدين: وذالك لانهم لما صلحوا للامامة فلأن يصلحوا للاقتداء اولى (الدر المختار مع رد المحتار ۱/۶۰۳)

(۳۴۸)وَمَنْ لَاعُذْرَ لَه لو صلى الظُّهرَ قَبلَهَا كُرِهَ (۳۴۹)فَإِنْ سَعَى إِلَيهَا بَطَلَ (۳۵۰)وَكُرِهَ لِلمَعذُورِ وَالمَسجُونِ أَدَاءُ الظُّهرِ بِجَمَاعَةٍ فِي المِصْرِ (۳۵۱)وَمَنْ أَدرَكَهَا فِي التَّشَهُّدِ أَوفِي سُجُودِ السَّهوِ أَتَمَّ جُمُعَةً

ترجمه،اوڅوك چې كوم عذرونه لري نوكه دده دجمعې له لمانځه څخه مخكې دماپښين لمونځ اداء كړنومكروه ده،نوبياكه دى دجمعې لمانځه ته ولاړى نودماپښين لمونځ يې باطليږي ،اومكروه ده معذوراوبندى لره دماپښين لمونځ په جماعت سره اداء كول په ښاركې دننه ،اوكه چادجمعې لمونځ پيداكړپه تشهدكې ياپه سجده سهوكې نوجمعه دې پوره كړي .

تشريح :(۳۴۸)يعنى كه يوچادجمعې په ورځ دجمعې له لمانځه څخه مخكې په خپل كوركې دماپښين لمونځ اداء كړنودده دالمونځ جائز دى مګرمكروه تحريمي دى ولې چې دجمعې په ورځ خواصلا دماپښين لمونځ فرض دى لكه څرنګه چې په نوروورځوكې دماپښين لمونځ فرض دى ولې چې تكليف حسب قدرت وي اوپه دې وخت كې مكلف بذات خوددظهرپه اداء كولوقادردى نه دجمعه په اداء كولوولې چې جمعه په داسې شرائطوپسې موقوفه ده كوم چې په تنهايوه سړي باندې نه پوره كيږي مثلاًدامام موجودوالى ،جماعت ،نوثابته شوه چې اصل فريضه دظهرده اوده په خپل وخت كې اداء كړه لهذاصحيح ده مګرڅرنګه چې حكم دادى چې دظهرلمونځ دجمعې په لمانځه سره ساقط كړئ په دې وجه دظهراداء كول مكروه دي .

ف :دامام زفر رحمه الله اونوروائمه وپه نزدله جمعې څخه مخكې په كوركې دماپښين لمونځ اداء كول جائزنه دي ولې چې ددوئ په نزددجمعې په ورځ اصلاً دجمعې لمونځ فرض دى دظهرلمونځ دهغه بدل دى اوترڅوچې په اصل باندې قدرت وي نودبدل لورته رجوع نشي كيداى لهذادجمعې په لمانځه دقدرت په صورت كې دماپښين لمونځ اداء كول صحيح نه دي .

(۳۴۹)يعنى كه دجمعې په ورځ دماپښين لمونځ په كوركې له اداء كولووروسته دده رايه داشوه چې دجمعې لمانځه ته به ځم نودجمعې لمانځه ته روان شواوحال داچې امام تراوسه دجمعې له لمانځه څخه نه وو فارغ شوى نودامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دادى چې له كورڅخه له روانيدوسره يوځاى دده دظهردلمانځه فرضيت باطليږي اودالمونځ نفل كيږي اودصاحبينوپه نزدپه صرف روانيدو سره لمونځ نه باطليږي بلكه دجمعې په لمانځه كې په شركت كولوسره باطليږي، دصاحبينودليل دادى چې دجمعې لمانځه ته تلل بذاته مقصود نه دي بلكه دجمعه داداء كولو وسيله ده اوظهر فرض مقصود دى په دې وجه

سعی الی الجمعة دماپښين دلمانځه په نسبت ادنی ده اوقاعده داده چې په ادنی سره اعلی نه باطليږي لهذا په محض سعی الی الجمعة سره ظهرنه باطليږي ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادی چې سعی الی الجمعة دجمعې له خصائصوڅخه دی لهذا دظهرپه باطلولو کې احتياطا دجمعې دلمانځه مرتبه لري .

ف :دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی لمافی ردالمحتار :واطلق فی البطلان فشمل مااذالم يدرکهالبعدالمسافة مع کون الامام فيهاوقت الخروج اولم يکن شرع قال فی السراج وهوالصحيح حتی لوکان بيته قريبامن المسجدوسمع الجماعة فی الرکعة الثانية فخرج بعدماصلی الظهرفی منزله بطل الظهرعلی الاصح (ردالمحتار :۱/۶۰۸)

(۳۵۰)يعنی که معذوروخلکو مثلاړندويامريضانواوغلام وغيره دجمعې په ورځ په ښارکې دجمعې له لمانځه څخه وړاندې ياوروسته دماپښين لمونځ په جماعت سره اداء کړنوداعمل مکروه تحريمي دی همدا حکم دبنديانوهم دی ولی چې دجمعې په ورځ دماپښين دلمانځه په جماعت سره په اداء کولوکې په ظاهري صورت دجمعې مقابله اومعارضه معلوميږي ،اوهمداراز په دې وجه هم چې ممکن ده چې څه غيرمعذورخلک هم جمعه پريږدي اوله معذوروخلکوسره په جماعت کې شامل شي له کوم څخه چې دجمعې په جماعت کې تقليل واقع کيږي .

(۳۵۱)يعنی که چادجمعې په ورځ امام دجمعې په لمانځه کې وموندنوکه يې يورکعت دجمعې لمونځ له امام سره وموندا وهغه يې له امام سره اداء کړنوبالاتفاق به پردې باندې جمعه بناء کړي اوکه يې امام دجمعې په لمانځه کې په تشهديا سجده سهوکې وموندنودشيخينوپه نزددې داکس دجمعې لمونځ پوره کړي ولی چې دکس جمعه موندونکی دی حتی چې دده لپاره دجمعې نيت شرط نه دی اودجمعې دلمانځه موندونکی به جمعه اداءکوي نه دماپښين لمونځ .

ف :دامام محمد رحمه الله په نزدکه چيرته ده ددوهم رکعت اکثره برخه له امام سره وموندله مثلاپه رکوع کې له امام سره شريک شونودجمعې لمونځ به پوره کوي اوکه له رکوع څخه وروسته شريک شونودماپښين لمونځ به پوره کوي ولی چې ددې کس په حق کې دجمعې ځينې شرائط (مثلاجماعت)فوت شوولی چې داکس به دامام له سلام څخه وروسته يواځې لمونځ دجمعې اداء کوي نودالمونځ من وجه دجمعې لمونځ دی اومن وجه دماپښين لمونځ دی نولهذا دماپښين په اعتبارکولوسره به داکس څلوررکعته لمونځ اداءکوي .

ف :دشيخينوقول راجح دی لمافی الدرالمختارمع الشامية :ومن ادرکهافی تشهداوسجودسهوعلی القول المفتی به فيهايتمها جمعة خلافالمحمد :قال ابن عابدين :لم ذکرعن بعضهم انه يصيرمدرکا بلاخلاف وقال وهوالصحيح (الدرمع الشامية :۱/۶۰۵)

(۳۵۲)وَإِذَاخَرَجَ الإِمَامُ فَلاصَلاةَ وَلاكَلامَ (۳۵۳)وَيَجِبُ السَّعْيُ وَتَرْکُ الْبَيْعِ بِالأَذَانِ الأَوَّلِ (۳۵۴)فَإِنْ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ أُذِّنَ بَيْنَ يَدَيْهِ (۳۵۵)وَأُقِيمَ بَعْدَتَمَامِ الْخُطْبَةِ

ترجمه:اوکله چې امام دخطبې لپاره راووځي نوبيانه لمونځ شته اونه خبرې ،اوواجب دی دجمعې لپاره تلل اواخيستل خرڅول پريښودل په اول اذان سره ،نوچې کله په منبرباندې کښيني نواذان دې وکړل شي دده مخامخ ،اواقامت دې وکړل شي له خطبې څخه وروسته

تشريح:(۳۵۲)يعنی دجمعې په ورځ چې کله امام دخطبې لپاره له خپلې حجرې څخه راووځي ياکه په صف کې وو نوپه منبردختلولپاره ودريږي نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددې خلک نه نوافل کوي اونه سنتونه

اونه دي خبري کوي ترڅوچې امام له خطبې اولمانځه څخه فارغ شي ولې چې له حضرت ابن عمراوحضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی ﴿ان النبی ﷺ قال اذا خرج الامام فلا صلٰوۃ ولا کلام﴾ (يعنی کله چې امام راووځي نونه لمونځ شته اونه خبري)په حديث شريف کې له خطبې څخه وړاندي اوله خطبې څخه وروسته هيڅ تفصيل نشته لهذاامام له خروج څخه وروسته مطلقاصلوٰة اوکلام ممنوع دی،دصاحبينو په نزددخطبې له پيل کيدوڅخه وړاندي اوله خطبې څخه وروسته له تکبيرويلووړاندي په خبروکولوکې څه مضائقه نشته ولې چې دکلام کراهت خودخطبې داوريدلوپه فرض کې دخلل اچولوله کبله دی اوپه مذکوره وختونوکې څه اوريدل نشته په دي وجه کراهت هم نشته .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی :لمافی الدرالمختار:اذاخرج الامام من الحجرة ان كان فيها والافقيامه للصعود فلاصلوٰة ولاكلام الی تمامها فی الاصح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار:۱/۶۰۵)

ف:هوصاحب ترتيب کس قضاء لمونځ اداء کولی شي ولې چې له دي څخه بغيرد جمعې لمونځ صحيح نه دی اوپه کوم لمانځه کې چې يې په دي وخت کې شروع کړي ده دهغه دادا،کولواجازه شته ولې چې په شروع سره لمونځ لازميږي كمافی شرح التنوير:(خلاالقضاء فائتة لم يسقط الترتيب بينها وبين الوقتية)فيها لاتكره سراج وغيره لضرورة صحة الجمعه والاولوخرج وهوفی السنة اوبعدقيامه لثالثة النفل يتم فی الاصح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار:۱/۶۰۶)

(۳۵۳)يعنی کله چې مؤذن دجمعې په ورځ اول اذان وکړي نوپه همدي وخت کې دجمعې لمانځه ته تلل اواخيستل خرڅول پريښودل واجب دي لقوله تعالی ﴿فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ (تاسې دالله دذکرلورته ولاړشئ اواخيستل خرڅول پريږدئ).

(۳۵۴)کله چې امام منبرته پورته شي اوکښيني نومؤذن دي دمنبرمخامخ اذان وکړي ولې چې همدامتوارث دی دنبی کريم ﷺ په زمانه کې صرف همدادوهم اذان وو په همدي وجه دځينومشائخوپه نزدسعی په واجبوالی اودبيع په حراموالی کې دغه اذان معتبردی .

ف:مګراصح دداده چې اول اذان معتبردی لمافی الدرالمختارمع الشامية:فكل ماحرم فی الصلوٰة حرم فيها ووجب سعی اليها وترک البيع بالاذان الاول فی الاصح والاصح انه الاول باعتبارالوقت وهوالذی يكون علی المنارة بعدالزوال (الدرالمختارمع الشامية:۱/۶۰۷)

ف:نن صبادجمعې له لمانځه څخه مخکې تقريرکول رواج شوي دي دکوم له امله چې داول اذان اوخطبې ترمنځ ديروخت ورکول کيږي په دي وجه دګناه سبب دمسجدمنتظمين دی په منتظمينولازمه ده چې داذان اول اوخطبې ترمنځ دي ديرفصل نه کوي (احسن الفتاوی ،۴/۱۲۴)بنه خبره داده چې خطيب صاحب دي اول تقريروکړي بيادي اول اذان وشي اوسنت دي اداء کړل شې بيادي دوهم اذان اوخطبه وويل شي .

(۳۵۵)بيادي له همدي دوهم اذان څخه وروسته امام خطبه ووايي اوله خطبې څخه وروسته دي لمونځ شروع کړي ولې چې همدامتوارث دی اولمونځ دي هم خطيب ورکړي له خطيب ماسوادبل چاپاره امامت کول مناسب نه دي .

ف:دجمعې په ورځ له زوال څخه وړاندي له ښارڅخه وتل اوپه سفرتلل مکروه نه دی له سفرڅخه مرادشرعی سفرنه دی بلکه هرهغه ځای ته تلل مراددي چيرته چې دجمعې لمونځ فرض نه وي اوله زوال څخه وروسته

دجمعې دلمانځه له اداء کولوبغيرپه سفرتلل مکروه دي كمافى شرح التنوير: وقال فى شرح المنية والصحيح انه يكره السفر بعدالزوال قبل ان يصليها ولا يكره قبل الزوال (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۱/۶۰۸)

باب صلاة العيدين

دباب داخترونودلمانځه په بيان کې دی

دجمعې دلمانځه او اخترونوپه لمانځه کې مناسبت دادی چې دواړه په جمع عظيم سره په ورځ کې په جهري قرأة سره اداکيږي اوله خطبې څخه ماسواچې دجمعې دلمانځه لپاره کوم شرطونه وو هغه شرطونه داخترونودلمانځه لپاره هم دي اوپه چاچې دجمعې لمونځ فرض دی په هغه داخترلمونځ هم واجب دی .مگرځرنگه چې فرض اوکثيرالوقوع ده په دي وجه يې جمعه تراخترونه مخته ذکرکړه ،عيدله عود څخه دی دراگرځيدلوپه معنی سره ځرنگه چې اخترهرکال له نويو خوشحاليوسره راگرځې په دي وجه ده ته عيدويل کيږي اوس په عرف کې هري خوشحالی ته دعيدلفظ استعماليږي كماقال الشاعر: عيدوعيدوعيدصرن مجتمعة وجه الحبيب ويوم العيدوالجمعة.

(۳۵۶)تَجِبُ صَلَاةُ الْعِيدَيْنِ عَلَى مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ بِشَرَائِطِهَا سِوَى الْخُطْبَةِ (۳۵۷) وَنُدِبَ فِي الْفِطْرِ أَنْ يَطْعَمَ (۳۵۸) وَيَغْتَسِلَ وَيَسْتَاكَ وَيَتَطَيَّبَ وَيَلْبَسَ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ (۳۵۹) وَيُؤَدِّيَ صَدَقَةَ الْفِطْرِ ثُمَّ يَتَوَجَّهَ إِلَى الْمُصَلَّى (۳۶۰) غَيْرَ مُكَبِّرٍ (۳۶۱) وَ لَا يَتَنَفَّلَ قَبْلَهَا

ترجمه:واجب دی داخترلمونځ پرهغه چاباندي چې پرهغه دجمعې لمونځ واجب وي دجمعې له شرائطوسره ماسواله خطبې څخه ،اومستحب ده په کوچنی اخترکې چې څه وخوري ،اوغسل وکړي اوخوشبوئي ولگوي اوپه تن کې خپلې غوره جامې ،اوصدقه فطراداءکړي ،بيامتوجه شي دعيدگاه لورته ،تکبيردي نه وايي ،اوله دي څخه مخکې دي نفل نه کوي .

تشريح :(۳۵۶)يعنی داخترلمونځ واجب دی ولی چې نبی کريم ﷺ داخترپرلمانځه بلاترکه مواظبت کړی دی اودنبی کريم ﷺ بلاترکه مواظبت کول دوجوب دليل دی ،اوهمداراز په ارشادباری تعالی ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ (يعنی دخپل لپاره لمونځ اداء کړه اوقرباني وکړه)کې له صلوة څخه داخترلمونځ مراددی،داخترونولپاره هم دري ډوله شرطونه دي (۱)دجوازشرائط يعنی طهارت ،عورت پټول ، استقبال القبلة ،وغيره (۲)دوجوب شرائط يعنی ازادوالی ،مقيم والی، روغ والی ،نروالی ،بيناوالی ، اوپه تگ باندي قدرت لرل ،(۳)داداء شرائط داداء شرطونه هغه دي کوم چې دجمعې لپاره وو يعنی ښاربه وي ،سلطان به وي وغيره البته په اخترونوکې خطبه ويل شرط نه دي په جمعه کې شرط دي ولی چې شرط شی له شي څخه مخکې وي اوپه اخترونوکې خطبه له لمانځه څخه وروسته ويل کيږي .

(۳۵۷)يعنی دکوچنی اخترد ورځې له مستحباتو څخه يودادی چې عيدگاه ته له تللو څخه وړاندي کوم خوږشی وخوري ﴿لان رسول الله ﷺ لايخرج يوم الفطرحتى يأكل وكان لايأكل يوم النحرحتى يصلى﴾(يعنی نبی کريم ﷺ به دکوچنی اخترپه ورځ له څخه خوړلووړاندي عيدگاه ته نه وتی اودلوی اخترپه ورځ به يې ترلمانځه وړاندي څه نه خوړل).

(۳۵۸)قوله ويغتسل ويستاك الخ اى وندب فى الفطران يغتسل ويستاك الخ ،يعني دكوچنى اختر په ورځ غسل كول،خوشبوئي لګول او مسواک وهل مستحب دي ولې چې دادخلګو ديوځاى کيدوورځ ده لکه څرنګه چې دجمعې په ورځ دډيروخلګو دراغونډيدوله کبله دااعمال مستحب دي ،مسواک خوله عامولمونځونوڅخه مخکې هم مستحب دى نوښکاره خبره ده چې داخترپه ورځ به په درجه اولى سره دمسواک اهتمام مناسب وي ،اودكوچني اخترپه ورځ داهم مستحب ده چې په خپلو جاموکې کومه جامه ترټولو ښه وي هغه دي په تن کړي ولې چې نبى كريم ﷺ سره دسروکربښو والايمني څادروو کوم چې به نبى كريم ﷺ دجمعې اوعيدينو په ورځ په تن کاوو.

ف:دلته مصنف رحمه الله غسل ته مستحب ويلې دي اوحال داچې غسل سنت دى نوددي وجه داده چې سنت په مستحبو مشتمل وي ،مصنف رحمه الله دمسواک په باره کې وويل چې دعيدپه ورځ مسواک وهل سنت دى هسې خومسواک په ټولولمونځونوکې لمانځه ته دولاړيدلوپه وخت کې مستحب ده ،البته په اودا سه کې مسواک سنت مؤکد دى كمافى الشامية :المرادبالاستياک عندالقيام الى الصلوة فانه مستحب وكذاعندالاجماع بالناس واماالسواک فى الوضوء فانه سنة مؤكدة ولا خصوصية للعيدفيه (ردالمحتار:۱/۶۱۲)

ف:داکوم چې رواج دى چې داخترونوپه ورځ خلګ له لمانځه وروسته التزامامصافحه اومعانقه کوي دابدعت دى ولې چې په خيرالقرون کې داعمل موجودنه وو هوکه دنوروورځونوپه څيرپه دي وخت کې نوى ملاقات وو نوبيادمصافحه وکړي که نه نو نه دي کوي ،باقى بې له مصافحې يوبل ته په اخترديمبارک شه ويلوکې څه حرج نشته كمافى الشامية :ونقل فى تبيين المحارم عن الملتقط انه تكره المصافحة بعداداء الصلوة بكل حال لان الصحابة ﷺ ماصافحوابعداداء الصلوة ولانهامن سنن الروافض اه ثم نقل عن ابن حجرعن الشافعية انهابدعة مكروهة لااصل لهافى الشرع وانه ينبه فاعلهااولا ويعزرثانيا ثم قال :وقال ابن الحاج من المالكية فى المدخل انهامن البدع وموضع المصافحة فى الشرع انماهوعندلقاء المسلم لاخيه لافى ادبار الصلوات فحيث وضعها الشرع يضعهافينهى عن ذلک ويزجرفاعله لماأتى به من خلاف السنة (ردالمحتار:۵/۲۷)

اوعلامة الهندمحمدعبدالحى لكهنوى رحمه الله له اوږده بحثه وروسته داسې محاکمه ليکې ،اقول انهم قداتفقواعلى ان هذه المصافحة ليس له اصل فى الشرع ثم اختلفوافى الكراهة والاباحة والامراذاداربين الكراهة والاباحة ينبغى الافتاء بالمنع لان دفع مضرة اولى من جلب المنفعة فكيف لايكون اولى من فعل امرمباح على ان المصافحين فى زماننايظنونه امراحسناويشنعون على مانعه تشنيعابليغاويصرون عليه اصرارا وقدمران الاصرارعلى المندوب يبلغه الى حدالكراهة فكيف اصرار البدعة التى لااصل لهافى الشرع وعلى هذافلاشک فى الكراهة وهذاهوغرض من افتى بالكراهة من ان الكراهة المانقلهامن عبارات المتقدمين والمحققين فلايجوزبهاروايات مثل صاحب مجمع البركات والسراج المنيرومطالب المؤمنين فان تساهل مصنفيهافى تحقيق الروايات امرمشهوروجمعهم كل رطب ويابس معلوم عندالجمهوروالعجب من صاحب خزانة الروايات حيث قال فيهافى عقدالالى قال ﷺ صافحوابعدصلوة الفجريكتب الله لكم بهاعشرحسنات وقال ﷺ صافحوابعدالعصرتوجروابالرحمة والغفران انتهى ،ولم يتفطن ان هذين الحديثين وامثالهماموضوعات وضعها المصافحون فانالله وانااليه راجعون (السعاية:۲/۲۶۵)

البته په عيدينوکې دعيددې مبارک شه دويلوجواز علامه شامى رحمه الله په دالفاظوسره بيان کړى دى والمتعامل فى البلادالشامية والمصرية عيدمبارک عليک ونحوه وقال يمكن ان يلحق بذالک فى المشروعية والاستحباب لمابينهمامن التلازم فان من قبلت طاعته فى زمان كان ذالک الزمان عليه مباركاعلى انه قدوردالدعاء بالبركة فى امورشتى فيؤخذمنه استحباب الدعاء بهاهناايضا (ردالمحتار:۱/۶۱۳)

(۳۵۹)عيدګاه ته له تلوڅخه وړاندي دي صدقه فطراداکړي ولی چې له حضرت ابن عمر ﷺ څخه مروی ده چې نبی کريم ﷺ موږته له عيدګاه ته ترتلو وړاندي دصدقه فطرداداء کولوامروکړ، اوهمدارازعيدګاه ته ترتګ وړاندي دصدقه فطرپه اداء کولوکې دفقيراعانت دی په دي ډول چې دفقيرزړه دلمانځه لپاره فارغيږي ،قوله ثم يتوجه ،دان مقدرله کبله منصوب دی په مخکينيومندوباتو باندي عطف دی يعنی اوس دي دعيدګاه لورته متوجه شي دعيدګاه طرف ته وتل مستحب دي که څه هم په جامع مسجدکې خلک ځايږي .

(۳۶۰)قوله غيرمکبرای حال کونه غيرمکبرفی الطريق ،يعنی دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددي په لاره کې تکبيرنه وايي يعنی په لوړاوازسره دي تکبيرنه وايي له مطلق تکبيرويلوڅخه منع نشته ولی چې تکبيرخيرموضوع ده په سوکه ويلوکې دهيچااختلاف نشته ،داخفاء دليل دادی چې تکبيرذکردی اوپه ذکرکې اصل اخفاء ده ﴿لقوله ﷺ خيرالذکرالخفی وخيرالرزق مايکفی﴾ (ښه ذکرخفی دی اوښه رزق بقدرکفايت دی)مګر دلوی اخترپه ورځوکې خلاف قياس په زوره دتکبيرپه ويلونص واردشوی دی اوخلاف قياس ترخپل موردپوري خاص وي لهذاکوچني اخترپه لوی اخترقياسول صحيح نه دی ،دصاحبينوپه نزددي په کوچنی اخترکې هم په لوړاوازسره تکبيروايي ،صاحبين عيدالفطرپه عيدالضحی باندي قياسوي .

ف:دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی کمافی الهندية :ويکبرفی الطريق فی الضحی جهراوفی الفطرالمختارمن مذهبه انه لايجهروهوالماخوذبه امالوسرالمستحب کذافی الجوهرة (هنديه :۱/۱۵۰)وفی درالمحتار:وقدذکرالشيخ قاسم فی تصحيحه ان المعتمدقول الامام(ردالمحتار:۱/۶۱۲)

(۳۶۱)قوله ومتنفل قبلهاای وحال کونه غيرمتنفل قبلها،يعنی داخترله لمانځه څخه مخکې دي نفل نه کوي نه په عيدګاه کې اونه له عيدګاه ماسوا ،لحديث ابن عباس رضي الله عنهما ان رسول الله ﷺ خرج فصلی بهم العيدلم يصل قبلها ولا بعدها(يعنی نبی کريم ﷺ له کورڅخه باهرشواوخلکوته يې داخترلمونځ ورکړنبی کريم ﷺ نه داخترله لمانځه مخکې نفل اداء کړل اونه يې داخترله لمانځه څخه وروسته)سره له دي چې نبی کريم ﷺ په لمانځه حريص وو بيايې هم لمونځ نه کول دممانعت نښه ده ،البته داخترله لمانځه څخه وروسته په کورکې نوافل اداءکول صحيح دي .

ف:علامه شامي رحمه الله فرمايي چې دمذکورحکم دخواصولپاره دی عواموکه داخترله لمانځه مخکې په کورکې ياپه مسجدکې ياداخترله لمانځه وروسته په مسجدکې نفل کول نودوئ دي نه منع کيږي همداشان دي داخترله لمانځه څخه مخکې له تکبيرويلوڅخه نه منع کيږي که يې په لوړاوازسره وايي او که په کښته اوازسره ،لکه چې فرمايي ،وهذاللخواص اماالعوام فلايمنعون من تکبيرولاتنفل اصلالقلة رغبتهم فی الخيرات (قوله اصلا)ای لاسراولاجهرافی التکبيرولافی الصلوة بمسجداوبيت اوبعدهابمسجدفی التنفل واستشهدله بمافی التجنيس عن الحلوانی ان کسالی العوام اذاصلواالفجرعندطلوع الشمس لايمنعون لانهم اذامنعوالترکوهااصلاًمع تجويزاهل الحديث لهااولی من ترکهااصلا(ردالمحتار:۱/۶۱۲)

(۳۶۲)وَوَقْتُهَا مِنَ ارْتِفَاعِ الشَّمْسِ اِلٰى زَوَالِهَا (۳۶۳)اِنْ يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ مَثْنِيًّا قَبْلَ الزَّوَائِدِ (۳۶۴)وَهِيَ ثَلَاثٌ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ وَيُوَالِي بَيْنَ الْقِرَاءَتَيْنِ وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الزَّوَائِدِ (۳۶۵)وَيَخْطُبُ بَعْدَهَا خُطْبَتَيْنِ يُعَلِّمُ فِيهِمَا أَحْكَامَ صَدَقَةِ الْفِطْرِ (۳۶۶)وَلَمْ تُقْضَ اِنْ فَاتَتْ مَعَ الْإِمَامِ (۳۶۷)وَتُؤَخَّرُ بِعُذْرٍ اِلَى الْغَدِ فَقَطْ

ترجمه: او داختر دلمانځه وخت دلمر له ارتفاع ځخه بيا ترزوال پورې دی، او دوه رکعته دي اداء کوي په دي ډول چې ثناء دي تر تکبيراتو مخکې ووايې، او تکبيرات زوائد دري دي په هر رکعت کې او اتصال دي وکړي په دواړو قرأتو کې او رفع يدين دي وکړي په تکبيرات زوائدو کې، او دوه خطبې دي ووايې له لمانځه ځخه وروسته، وروډنيې په هغو کې دصدقه فطر احکام، او قضاء دي نه راوړي که چيرته فوت شو سره له امامه، او مؤخر کيدای شي دعذر له کبله صرف تر صبا پورې

تشريح: (۳۶۲) يعنی داختر دلمانځه وخت دلمر يو ه يا دوه نيزي له لوړيدو ځخه شروع کيږي ولی چې نبی کريم ﷺ داخترلمونځ په همدي وخت اداء کاوو، او دعيد دلمانځه وخت دلمر تر زوال پورې دی ولی چې يو ځل درمضان به نه ويشتم باندی مياشت ښکاره نه شوه او په صباورځ له زوال ځخه وروسته يو ځو خلکو دمياشتې دليدلو شاهدي ورکړه نو نبی کريم ﷺ په راتلونکې ورځ يعنی دشوال په دوهمه داختر دلمانځه داداء کولو امر وکړ نو که له زوال ځخه وروسته داخترلمونځ جائز وای نو نبی کريم ﷺ په دشوال تر دوهمې پورې نه مؤخر کاوو.

(۳۶۳) يعنی امام دي له خلکو سره دوه رکعته لمونځ په دي ډول سره اداء کړي چې اول دي تکبيرتحريمه ووايې بيا دي ثناء ووايې اودري زوائد تکبيرونه دي ووايې او په تکبيرات زوائدو کې دهرو دو تکبيرونو په منځ کې دريو تسبيحاتو په اندازه توقف کول مستحب دی بيا دي له الحمدلله سره يو سورة تلاوت کړي بيا دي رکوع تکبير وکړي او رکوع او سجده دي وکړي په دي ډول به اول رکعت پوره شي، په دوهم رکعت کې دي اول قرأة فاتحه او ضم سورة وکړي بيا دي دري زوائد تکبيرونه ووايې او د رکوع په تکبير ويلو سره دي رکوع وکړي همدا تفصيل له حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ ځخه منقول دی.

(۳۶۴) تکبيرات زوائد په هر رکعت کې دري دي په اول رکعت کې له قرأة ځخه مخکې او په دوهم رکعت کې له قرأة ځخه وروسته دي په دي ډول به ددواړو رکعتونو د قرأة ترمنځ اتصال وي ددواړو قرأتونو ترمنځ به تکبيرات زوائد فاصل نه وي، ددي تفصيل مطابق په دواړو رکعتونو کې ټول نه تکبيرونه شول شپږ زوائد دو د رکوع تکبيرونه او يو تکبير تحريمه، دا د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ قول دی، او همدا د احنافو مذهب دی، دامام مالک ﷫ او امام شافعی ﷫ په نزد په په اول رکعت کې له تکبيرتحريمه ماسوا او ۷ زائد تکبيرونه دي او په دوهم رکعت کې د رکوع له تکبير ځخه ماسوا پنځه ۵ زوائد تکبيرونه دي دا دابن عباس ﷺ مذهب دی، دتکبيرات زوائدو په وخت کې دي رفع يدين کوي ﴿لقوله ﷺ لاترفع الأيدي الافي سبع مواطن وذكر منها تكبيرات الأعياد﴾ (يعنی لاسونه مه پورته کوئ مگر په اوه ۷ ځايونو کې او په دي او و ۷ ځايونو کې يو ځای دتکبيرات عيدينو دی).

ف: داختر په لمانځه کې که يې امام په رکوع کې وموندنو تکبيرات دي ووايې او رکوع ته دي ولاړشي البته که له امام سره په رکوع کې دنه شريکيدلو خطره وه نو په رکوع کې دي بغير له لاس پورته کولو تکبيرات ووايې او که له تکبيراتو پوره کولو ځخه وړاندي امام له رکوع ځخه سر اوچت کړنو بقيه تکبيرات ساقطيږي

،او كه په دوهم ركعت كې له امام سره شريك شو يا په تشهد كې له امام سره شريك شو نو بقيه لمونځ بالكل په دې ډول اداء كېږي لكه له امام سره يو ځاى چې اداء كېږي. (احسن الفتاوى: ۴/۱۵۳)

(۳۶۵)داخترله لمانځه څخه چې فارغ شي نو امام دې دوه خطبې ولولي ،لحديث ابن عمررضی الله تعالى عنهما قال كان رسول الله ﷺ ثم ابوبكر ﷺ وعمر ﷺ يصلون العيدين قبل الخطبة (يعنى نبى كريم ﷺ يا حضرت ابوبكر ﷺ يا حضرت عمر ﷺ داخترونو لمونځ له خطبې څخه مخكې اداء كاوو)،په دې خطبه كې دې د صدقه فطر او دهغې داحكامو تعليم وركړل شي ترڅو كه چا صدقه فطرنه وي اداء كړې هغه يې اداء كړي ولې چې خطبه د همدې مقصد لپاره مشروع شوې ده ،بيا مستحب داده چې داولنۍ خطبې په پيل كې دې مسلسل نه ۹ تكبيرونه ووايي اودوهمې خطبې په پيل كې دې او ۷ تكبيرونه ووايې او بالكل په اخيركې مسلسل څوارلس واره الله اكبرويل مستحب دي .

(۳۶۶)يعنى كه له چا څخه داخترلمونځ له امام سره فوت شو يعنى له امام سره يې اداء نه كړنو هغه به قضاء نه اداء كوي ولې چې داختر دلمانځه لپاره څه داسې شرئط دي كوم چې په تنها انسان سره نشي پوره كيداى مثلاً جماعت ،دسلطان وجود وغيره نو څرنگه چې په منفردكې دا شرطونه نشي موجود كيداى په دې وجه دده تنها داخترلمونځ اداء كول هم جائز نه دي ،هو كه چيرته بلې عيدگاه ته په تلو سره يې داخترلمونځ پيدا كولى شواى نو هلته دې ولاړشي او داخترلمونځ دې اداء كړي ولې چې داخترلمونځ په ښاركې له يوه څخه په ډيرو ځايونو كې اداء كول جائز دي .

ف:په ښاركې دننه په متعدد و ځايونو كې په يوه وخت كې دجمعې او عيدينو لمونځ اداء كول صحيح دي په يوه ځاى كې متعدد جماعتونه كول جائز نه دي لهذا له كوموخلكو څخه چې داخترلمونځ پاتې شو نوهغوئ كه په كوم بل ځاى كې دبل امام اقتداء وكړي يادبل جماعت اهتمام وكړي نوددوئ داعمل صحيح دى البته په همدې مسجد يا عيدگاه كې دوهم ځل لمونځ اداء كول جائزنه دي (بحرالرئق: ۲/۱۶۲)

(۳۶۷)يعنى داخترلمونځ دعذرله كبله تردوهمې ورځې پورې مؤخركول جائز دي ولې چې ددې تاخيرپه سلسله كې نص واردشوى دي چې يو ځل له زوال څخه وروسته څه خلكو دسپوږمۍ دليدلو شاهدي اداء كړه نونبي كريم ﷺ په دوهمه ورځ داختردلمانځه داداء كولو حكم وكړ،ليكن كه دوهمه ورځ هم كوم داسې عذرپيدا شو چې داخترلمانځه لره مانع وو نو په دريمه ورځ به داختردلمانځه داداء كولو اجازه نه وي ولې چې دعيدينو په لمونځونو كې هم دجمعې په ډول اصل خو دا ده چې بايد قضاء يې اونشي مگرتردوهمې ورځې پورې په مؤخركولو كې دحديث مذكورله كبله دااصل ترک كړاى شو ليكن څرنگه چې تردريمې ورځې پورې د مؤخركولو په باره كې كوم نص نشته نو په دې وجه تردريمې ورځې پورې دمؤخركولو اجازه نشته .

(۳۶۸)وَهِيَ أَحْكَامُ الْأَضْحَى لَكِنْ هُنَا يُؤَخِّرُ الْأَكْلَ عَنْهَا (۳۶۹)وَيُكَبِّرُ فِي الطَّرِيقِ جَهْرًا (۳۷۰)وَيُعَلِّمُ الْأُضْحِيَّةَ وَتَكْبِيرَ التَّشْرِيقِ فِي الْخُطْبَةِ (۳۷۱)وَتُؤَخَّرُ بِعُذْرٍ إِلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَالتَّعْرِيفُ لَيْسَ بِشَيْءٍ

ترجمه :اوهمدا احکام دلوی اخترهم دي ليکن دلته دي مؤخرکې خوراک له لمانځه څخه ،اوپه لاره کې دي په لوړ اواز سره تکبيروايې ،اوتعليم دي ورکړي داضحيه اوتکبيرات التشريق داحکاموپه خطبه کې ،اومؤخرکيدای شي دعذرله کبله تردريمې ورځې پورې اوتعريف هيڅ شی هم نه دی .

تشريح :(۳۶۸)قوله وهی احکام الاضحی ای الاحکام المذکورة فی صلوٰة عيدالفطر احکام لعيدالاضحی،يعنی کوم تفصيل چې دکوچنی اختردااحکاموپه باره کې تيرشوهغه تفصيل دلوی اختردااحکاموپه باره کې هم دی البته دلوی اخترپه ورځ دي خوراک له لمانځه څخه وروسته وکړي ولی چې مروی ده چې نبی کريم ﷺ به دلوی اخترپه ورځ خوراک نه کاوو ترڅوچې به له لمانځه څخه فارغ شويابه يې له اضحيه خوراک تناول کاوو .

ف:داصح قول مطابق دلوی اخترپه ورځ قربانی کونکې اوقربانې نه کونکې دواړولره خوراک له لمانځه څخه مؤخرکول مستحب دي اوکه يې لمانځه څخه مخکې خوراک وکړهم مکروه نه ده کمافی الدرالمختار:ويندب تأخيراکله عنهاوان لم يضح فی الاصح ولواکل لم يکره ای تحريما،قال فی البحروهومستحب ولايلزم من ترک المستحب ثبوت الکراهة الالابدلهامن دليل خاص (الدرالمختارمع الشامية:۱/۶۱۸)

(۳۶۹)بياعيدګاه ته تلوپه وخت کې به په لاره کې بالاتفاق په لوړاوازسره تکبيروايې لقوله تعالی ﴿ اذکروالله فی ايام معدودات ﴾ (يعنی يادکړئ الله تعالی لره دشمارپه ورځوکې)دشميرله څوورځوڅخه مراددعيدپه ورځوکې تکبيرويل دي، اوهمداراز مروی ده چې نبی کريم ﷺ به دعيدګاه په لاره کې دعيدپه ورځ په لوړاوازسره تکبيروايو .

(۳۷۰)دلوی اخترله لمانځه وروسته دي امام دوه خطبې ولولې ولی چې نبی کريم ﷺ همداشان عمل کړی وو ،اوپه دي دوو خطبوکې به خلکوته دقربانی اوتکبيرات تشريق احکام ورښيي ولی چې په دي ورځوکې همداشيان مشروع دي اوخطبه دهمدي شيانودتعليم لپاره مشروع شوي ده ، هسې خومناسب داده چې تکبيرات تشريق دي له اخترڅخه په مخکنی جمعه کې ورازده کړي ولی چې تکبيرات تشريق داخترله خطبې څخه وړاندي يعنی دذوالحجې دنهمې ورځې له سهارڅخه شروع کيږي لهذاداخترله خطبې څخه مخکې ددوئ تعليم مناسب دی .

(۳۷۱)يعنی که دلوی اخترپه ورځ کوم عذردلمانځه څخه مانع موجودشونوبيادي دوهمه ورځ لمونځ اداء کړي اوکه په دوهمه ورځ هم عذروو نوپه دريمه ورځ دي اداء کړي مګرله دريمې ورځې څخه وروسته مؤخرکول جائز نه دي ولی چې دلوی اخترلمونځ مؤقت بوقت اضحيه (قربانی)دی په دي وجه به داضحيه په ايامو سره مقيدوي مګرپه بلاعذرتردوهمې يادريمې ورځې پورې په مؤخرکولوسره ګنهګارکيږي ولی چې له نبی کريم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ څخه داشان تأخير منقول نه دی ،اوتعريف دعرفې لمانځلوپه معنی سره دی ،دکوم چې صورت دادی چې دعرفې په ورځ خلک په خپله علاقه کې په يوميدان کې سره راجمع شي اولکه څرنګه چې حاجيان په عرفات کې دخيردعاء کوي داخلک هم ددوئ په شان احرام وتړي اوپه لبيک ويلوسره يوځای شي اوودعاء وکړي مصنف رحمه الله په دي باره کې وايې چې په شريعت کې ددي هيڅ ثبوت نشته ولی چې په شريعت کې دخاص ځای يعنی عرفات کې دريدل عبادت دی له دي ماسوابل ځای دريدل عبادت نه دی .

(۳۷۲)وسن بعد فجر عرفة إلى ثمان مرة الله أكبر إلى آخره (۳۷۳)بشرط إقامة ومصر ومكتوبة وجماعة مستحبة (۳۷۴)وبالاقتداء يجب على المرأة والمسافر

ترجمه: او سنت دی دعرفات دورځې له سهار ځخه تر اتو لمونځونو پورې يو ځل الله اکبر الخ ويل ،په دې شرط چې مقيم به وي او ښار به وي او فرض لمونځ به وی او مستحب جماعت به وي ،او داقتداء له امله واجبيږي په ښځه او مسافر باندې هم ،

تشريح:(۳۷۲)داختر په ورځو کې له فرض لمانځه ځخه وروسته يو ځل تکبير تشريق يعنى الله أكبر الله أكبر لا إله إلا الله والله أكبر الله أكبر ولله الحمد سنت دي ،دتکبير تشريق پيل په اتفاق داحنافو سره دنهم ذوالحجه له سهار ځخه کيږي او په انتهاء کې اختلاف دی دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد د ذی الحجه دلسم تاريخ ترمازديګره پورې تکبير تشريق ويل کيږي په دې دول دامام ابوحنيفه رحمه الله دمذهب مطابق ټول اته لمونځونه دي له کوم ځخه چې وروسته تکبير تشريق ويل کيږي، همدا دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه قول دی .

دصاحبينو په نزد دايام تشريق داخرې ورځې يعنى ديارلسم ذوالحجه ترمازديګر پورې تکبير تشريق ويل کيږي په دې دول دصاحبينو دمذهب مطابق ټول درويشت لمونځونه دي چې له هغوئ وروسته تکبير تشريق ويل کيږي .

ف:مصنف رحمه الله تکبير تشريق سنت ګڼلې دي مګر دلته سنت دواجب په معنى سره دي ولی چې تکبير تشريق له فرض لمانځه وروسته يو ځل ويل واجب دی کمافی شرح التنوير (ويجب تكبير التشريق)فى الاصح للامربه (مرة)وان زادعليها يكون فضلا،قال ابن عابدين (قوله للامربه) اى فى قوله تعالى ﴿واذكروا الله في أيام معدودات﴾ .

ف:حضرت مولانامفتی رشيداحمدصاحب نورالله مرقده فرمايې :داختر له لمانځه ځخه وروسته تکبير تشريق بالاتفاق جائز دي البته په وجوب او استحباب کې اختلاف دی دوجوب قول راجح دی.(احسن الفتاوى :۴/۱۴۵)

(۳۷۳)دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد تکبير تشريق صرف دفرض لمنځونو له جماعت مستحبه ځخه وروسته په مقيمو خلکو په ښارکې واجب دي ولی چې په لوړ اواز سره تکبير ويل دسنت ځخه خلاف دي البته په رواياتو کې له مذکوره شرائطو سره وارد شوي دي لهذا ددې شرائطو رعايت به کيږي .او دصاحبينو په نزد پر هغه شخص باندې واجب دي کوم چې فرض لمونځ اداء کړي که ښاري وي که قروی که مقيم وي که مسافر،نرکه ښځه ولی چې تکبير دفرض لمانځه تابع دي نو ځوک چې هم فرض لمونځ اداءکړي هغه به تکبير وايي .

ف:له جماعت مستحبه ځخه دنارينه وجماعت مراد دی لهذا دښځو له جماعت ځخه وروسته تکبيرات تشريق واجب نه دي ولی چې دښځو جماعت مستحب نه بلکه مکروه دی .

ف:په دواړه مسئلو کې دصاحبينو قول مفتی به دی ولی چې تکبير ويل عبادت دی او په عبادت کې احتياط په دې کې دی چې اکثر و اخيستل شي کمافی شرح التنوير:(وقالا بوجوبه فور كل فرض مطلقا)ولو منفردا او مسافرا او امرأة لانه تبع للمكتوبة (الى) عصر اليوم الخامس (اخر ايام التشريق وعليه الاعتماد)والعمل والفتوى فى عامة الامصار وكافة الاعصار(الدرالمختار على

هامش ردالمحتار: (۱/٦۲۰) وفي امدادالاحكام :نعم نقل عن البحرعن المجتبى والجوهرة ان الفتوى على قولهما في من يجب عليه ايضاًفالبحرو بالجملة الاحوط العمل بقولهما والله اعلم(امداد الاحكام : ۱/۷۸۰)

(۳۷۴)دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپه ښځه اومسافرباندي تكبيرات تشريق واجب نه دي لامرالبته كه دوئ په ښاركي له مقيم امام سره په جماعت كي شريک شول نودامام داتباع له كبله به پردوئ هم تكبيرات تشريق واجب وي لكه څرنګه چي دمقيم په اقتداء كولوسره په مسافرباندي هم څلوررکعته لازميږي ،البته ښځه به په تكبيرپه لوړاوازسره نه وايي.

باب الكسوف

داباب دكسوف دلمانځه په بيان كي دی

داخترپه لمانځه ،دكسوف په لمانځه اوداستسقاء په لمانځه كي مناسبت دادی چي دري واړه لمونځونه په ورځ كي بغيرله اذان اواقامت څخه اداء كيږي ،بياداخترلمونځ په دي وجه مقدم كړچي كثيرالوقوع دی اوكسوف يې هم پراستسقاء په همدي وجه مقدم كړ.

كسوف اوخسوف په لغة كي دنقصان په معنى دي اودفقهاوپه اصطلاح كي دلمرتندرنيولوته كسوف اودسپوږمۍ تندرنيولوته خسوف ويل كيږي ،په صلوة الكسوف كي اضافت له قبيلي داضافة الشئ الى سببه څخه دی ،صلوة كسوف په كتاب الله اوسنت رسول الله دواړوسره ثابت دی قال الله تعالى ﴿ومانرسل بالايات الاتخويفا﴾ ښكاره خبره ده چي كسوف هم دالله تعالى له ويرونكيونښانيوڅخه يونښه ده ، اوپه بخاری شريف كي روايت دی نبی كريم ﷺ فرمايي ﴿إنَّ الشَّمسَ والقَمرَ آيَتانِ من آياتِ اللهِ لايَنكَسِفانِ لموتِ أحدٍ ولا لحياته فإذا رأيتموها فاذكروا الله وصلّوا﴾ (يعنى دلمرتندرنيول يادسپوږمۍ تندرنيول په خلكو كي دچادمرګ له كبله نه كيږي بلكه دادواړه دالله تعالى له نښانيوڅخه دي نوكله چي تاسي داووينئ نولمونځ اداء كړئ).

(۳۷۵)يصلي ركعتين كالنفل (۳۷٦)إمامُ الجمعة (۳۷۷)بلاجهرٍ وخطبةٍ (۳۷۸)ثمّ يدعو حتى تنجلي الشمس (۳۷۹) وإلاّصلّوافرادى (۳۸۰)كالخسوف والظلمة والريح والفزع

ترجمه: وراداء دي كړي دوه ركعته دنفلوپه شان ،دجمعي امام ،بغيرله جهراوخطبي څخه بيادي دعاء وكړي ترڅوچي روښان شي لمر.كه نه نولمونځ دي اداء كړي هريوتنها ،لكه دسپوږمۍ دتندرپه وخت كي اوتوري تاريكۍ په وخت كي اودوارخطايي (ويري)په وخت كي

تشريح :(۳۷۵)يعنى كه لمرتندرونيوی نوامام دي خلكوته لږترلږه دوه ركعته دنفلوپه څيرواداء كړي يعنى له اذان اواقامت څخه بغيردي اداء كړي اوپه دواړوركعتونوكي دي ښه اوږدقرأة تلاوت كړي ولي چي نبی كريم ﷺ اول ركعت دسورة بقره په اندازه او دوهم ركعت دسورة ال عمران په اندازه اوږدكړی وو.

ف:داحنافوپه نزدبه په واړه ركعتونوكي يوه يوه ركوع كوي ولي چي له حضرت عبدالله بن عمروابن العاص څخه مروی ده چي نبی كريم ﷺ صلوة كسوف دوه ركعته راكړهرركعت له يوي ركوع سره ،دامام شافعي

رحمه الله په نزد به په هر رکعت کښې دوه رکوع کوي ولې چې له حضرت عائشه رضي الله عنها څخه مروی ده چې نبی کریم ﷺ دوه رکعته صلوة کسوف اداء کړې په څلور رکوع او څلور وسجد وسره.

(۳۷۶)په صلوة کسوف کښې له فتنې او فساد څخه دخلاصیدلو لپاره مستحب داده چې هغه څوک امام جوړ مقرر کړای شي کوم چې خلکوته دعیدینو او جمعې لمونځ ورکوي كمافي الشامية: والصحيح ظاهر الرواية وهو انه لايقيمها الا الذي يصلي بالناس الجمعة كذافي البدائع (ردالمحتار: ۶۲۲/۱)

(۳۷۷)قوله بلاجهر وخطبة اي يصلي الامام ركعتين بلاجهر في القراة وبلاخطبة ،یعنی دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد به قرأة اهسته وايې ولې چې داد ظهر په شان دورځې لمونځ دی او جماعت ددواړو لپاره شرط نه دی لهذا دماپښین په شان به دلته هم قرأة اهسته وايې ،دصاحبینو په نزد به قرأة په لوړ او از سره وايې ولې چې داد اختر دلمانځه په شان په جمع عظیم سره اداء کیږي نو داختر دلمانځه په شان به په دې کښې هم قرأة په لوړ او از سره وايې په صلوة کسوف د احنافو په اتفاق سره خطبه نشته ولې چې خطبه لوستل منقول نه دي.

كمافي الهندية: وليس في هذه الصلوة خطبة وهذا مذهبنا كذا في المحيط (هندية: ۱۵۳/۱)

ف: دقرأة په باره کښې دامام ابو حنیفه رحمه الله قول مفتی به دی لمافي الهندية: ولايجهر بالقراة في صلوة الجماعة في كسوف الشمس في قول ابي حنيفه رحمه الله كذا في المحيط والصحيح قوله كذا في المضمرات (هندية: ۱۵۳/۱)

(۳۷۸)له لمانځه وروسته دې دعاء وکړي ترڅو چې لمر روښانه شي ،او امام لره اختیار دی که يې خوښه شوه مخامخ دې قبلې ته کښيني او دعاء دې وکړي او که يې خوښه شوه نو دخلکو طرف ته دې متوجه شي او دعاء دې وکړي او خلک دې امين وايي ترڅو چې دلمر تندر ختم شي ولې چې نبی کریم ﷺ فرمایي ﴿ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمُوهَا فَادْعُوا اللهَ وَصَلُّوا حَتَّى تَنْجَلِيَ الشَّمْسُ ﴾ (یعنی لمر او سپوږمی دالله تعالی له نښانیانو څخه دوه نښانیانې دی ددوئ تندرنيول په خلکو کښې دچا دمرگ یا ژوند له کبله نه وي نو کله چې تاسې دوئ وويني نو دعا وکړئ او لمونځ اداء کړئ ترڅو چې تندر ختم شي).

(۳۷۹)قوله والا اي وان لم يحضر امام الجمعة الخ ،یعنی که امام جمعه موجود نه وو نو خلک دې په خپلو خپلو کورنو کښې تنها تنها لمونځ اداء کړي ولې چې يو ه لره په امام جوړولو کښې داختلاف او فتنې خطره ده او همدارازدا نفل لمونځ دی او په نوافلو کښې اصل انفراد دی.

(۳۸۰)قوله كالخسوف اي كما يصلي في الخسوف فرادى ،یعنی دلمر د تندر دنیولو په وخت کښې که امام جمعه نه وي نو خلک دې په جماعت سره لمونځ نه اداء کوي بلکه هر يو دې تنها لمونځ اداء کړي ولې چې دفتنې خطره ده لکه څرنګه چې دسپوږمی دتندرنيولو په وخت کښې جماعت نشته ولې چې دنبی کریم ﷺ په زمانه کښې سپوږمی څو ځله تندرنيولې ده مگر دانه دي منقول چې نبی کریم ﷺ دې خلک راجمع کړي وي او لمونځ دې اداء کړي وی ،او همدارازدسپوږمی تندرنيول په شپه کښې وي او په شپه کښې دخلکو په راجمع کیدلو کښې مشقت وي لهذا هر يو دې خپل لمونځ تنها اداء کړي ،همداشان دې ډیري تاریکۍ یا طوفان یادداریه وخت مثلاً زلزله وغیره په موقع دې هم خلک هر يو تنها لمونځ اداء کړي ولې چې داشیان هم له ډارونکو نښو څخه دي لهذا په دې مواقعو کښې هم په کارده چې خلک دالله تعالی طرف ته متوجه شي.

بَابُ الِاسْتِسْقَاءِ

داباب داستسقاء دلمانځه په بيان کې دی

له کسوف سره دصلوة استسقاء مناسبت مخکې ذکرشو ،استسقاء په هغه ځای کې کیږي چیرته چې داوبوپراخې نه وي مثلاًکوم دریاب ،چشمه وغیره نه وي له کوم ځخه چې خلګ خپله اوبه وڅښې اوخپلوحيوانانوته اوبه وروڅښې نوکه دي شیانوکفایت کاوو نوداستسقاء لپاره دي نه راوځې ولې چې استسقاء دشدیدضرورت په وخت کې وي .

(۳۸۱)لَهُ صَلَاةٌ لَا بِجَمَاعَةٍ وَدُعَاءٌ وَاسْتِغْفَارٌ (۳۸۲)لَا قَلْبُ رِدَاءٍ (۳۸۳)وَحُضُورُ ذِمِّيٍّ (۳۸۴)وَإِنَّمَا يَخْرُجُونَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ

ترجمه:داستسقاء لپاره لمونځ دی بې له جماعته اودعاء ده او استغفاردی ،دڅادراړول نشته ،اوذمی دي نه حاضرېږي،اوراووځې دي دري ورځې دلمانځه لپاره .

تشریح:(۳۸۱)داستسقاء لغوی معنی ده سیرابی غوښتل ،اودشرع په اصطلاح کې دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزداستسقاء دقحط سالی په زمانه کې دعاء او استغفارته ویل کیږي ،اوپه استسقاء کې په جماعت سره لمونځ اداءکول مسنون نه دي لقوله تعالی (فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا) (یعنی ما وویل له خپل رب ځخه دګناه بخښش وغواړئ بیشکه هغه بخښونکی دی په تاسې به راپریږدي اسمان مسلسل)وجه استدلال داده چې الله تعالی دباران وروول په استغفارپسې معلق کړی دی نه په لمانځه پسې ،همدارازمروی ده چې نبی کریم ﷺ خطبه لوستله یوکس راغی اودوچ کالی شکایت یې وکړنبی کریم ﷺ لاس اوچت کړل اوویې فرمایل اللَّهُمَّ أَغِثْنَا اللَّهُمَّ أَغِثْنَا ،نوله دي روایت ځخه هم صرف دعاء ثابتیږي ،لیکن که خلګوتنهاتنهالمونځ اداء کړنوجائز ده کراهت نه لري کماقال ابن عابدين الشامی :والجماعة جائزة لامکروهة وهذاموافق لماذکرشیخ الاسلام من ان الخلاف فی السنیة لافی اصل المشروعیة لم یقل ابوحنیفة رحمه الله بسنیتهاولایلزم منهاقوله بانهابدعة کمانقله عنه بعض المتعصبین بل هوقائل بالجواز(شامی:۱/۶۲۳)

دصاحبینوپه نزدامام خلګوته دوه رکعته لمونځ ورکول سنت دي ولی چې دحضرت عبدالله بن زیدبن عاصم روایت دی ان رسول الله ﷺ خرج بالناس یستسقی بهم فصلی بهم رکعتین وحول رداءه ورفع یدیه فدعاواستسقی واستقبل القبلة (یعنی نبی کریم ﷺ له خلګوسره استسقاء ته ووتی بیایې هغوئ ته دوه رکعته لمونځ ورکړ اوخپل څادریې سرچپه کړاودواړه لاسونه یې اوچت کړل اودعاء یې وکړه اواستسقاء یې وکړه اواستقبال قبله یې وکړه)اوپه دواړه رکعتوکې دي قرأة په لوړاوازسره ولولی په عیدینوقیاس کوي .

ف:نن صباعمل دصاحبینوپه قول دی ،کمافی الدرمع الشامیة: وقالاتفعل کالعیدبان یصلی بهم رکعتین یجهرفیهمابالقرأة بلااذان ولااقامة ثم یخطب بعدهماقائماعلی الارض معتمداعلی القوس اوسیف اوعصا(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۱/۶۲۳)

ف:له لمانځه وروسته دي دامام ابویوسف رحمه الله په نزدیوه خطبه اودامام محمد رحمه الله په نزددوه خطبې ولولی ،دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی ،کماقال الشیخ عبدالحکیم الشاولیکوتی الشهیدفی حاشیة الهدایة: والصحیح ان الخطبة سنة والراجح فی کیفیتهاقول الامام ابویوسف رحمه الله (هامش هدایة :۱/۱۵۹)دخطبې اکثره برخه بایدپه استغفارمشتمله وي .

(۳۸۲)قوله ولاقلب رداء اى لايقلب رداء ،يعني دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد په استسقاء كې قلب رداء نشته ولى چې استسقاء دعاده اوپه دعاء كې قلب داء نشته لكه چې په نورودعاوو كې قلب رداء نشته ، دامام محمد رحمه الله په نزد دي امام قلب رداء وكړي لفعله ﷺ ،دڅادرداړولو طريقه داده چې كه څادرڅلور كونجه وو نولوړه برخه دي كښته كړي اوكښته برخه دي لوړه كړي اوكه څادرمدوروو لكه جبه نوراسته طرف دي كيڼ لورته كړى اوكيڼ طرف دي راسته لورته كړي ،خلك دي خپل څادرونه نه اړوي ځكه چې دانه ده منقول چې نبى كريم ﷺ دي صحابه كرامو ﷺ ته ددي حكم كړى وي .

ف :دامام محمد رحمه الله قول مفتى به دى كمافي الشامية :واختار القدورى قول محمد لانه ﷺ فعل ذالك وعليه الفتوى واما القوم لايقلبون ارديتهم عند كافة العلماء (ردالمحتار :۶۲۴/۱)

(۳۸۳)قوله وحضورذمي اى ولافيه حضورذمي ،يعني استسقاء ته دى ذميان نه حاضريږي ولى چې دمسلمانانو اوتل درحمت دنزول ددعاء لپاره دي اوپه ذميانو خولعنت اوري ،همداراز دالله تعالى ارشاددى ﴿ومادعاء الكافرين الافي ضلال﴾ (نه ده دكفارو دعاء مگرضائع).

(۳۸۴)مستحب داده چې خلك تردريوورځوپوري په پښوپه پريمنځل شويوجاموكې په خشوع اوخضوع سره ووځي اوهره ورځ له وتلوڅخه مخكې څه صدقه وكړي اودتوبې تجديددي وكړي اوله خپلو ځانو سره دي سپين ږيري اوحيوانان بيايي .

ف :اوكه له استسقاء څخه وړاندي باران وشونوهم دشكراوزيات باران دطلبولو لپاره وتل مستحب دي كمافى شرح التنوير :وان سقوا قبل خروجهم ندب ان يخرجوا شكرا لله تعالى (الدر المختار على هامش ردالمحتار :۶۲۵/۱)

بَابُ صَلٰوةِ الْخَوْفِ

داباب دصلوة الخوف په بيان كې دى

له ماقبل سره مناسبت دادى چې صلوة استسقاء نفل دى كوم چې په جماعت سره غيرمشروع دى مگردعارض قحط له كبله مشروع گرځولى شى دى همداشان لمونځ له عمل كثيرسره غيرمشروع دى مگردعارض خوف له كبله له عمل كثيرسره مشروع گرځولى شوى دى له دى كبله له استسقاء وروسته صلوة الخوف ذكركړل شو ،اوپه صلوة الخوف كې اضافة له قبيلې داضافة الشئ الى شرطه دى.

(۳۸۵)إِذَااشْتَدَّ الْخَوْفُ مِن عَدُوٍّ اَوسَبُعٍ وَقَفَ الإمَامُ طَائِفَةً بِإِزَاءِ العَدُوِّ وَصَلَّى بِاُخرٰى رَكْعَةً لَوْمُسَافِرًا وَرَكْعَتَيْنِ لَوْ مُقِيمًا وَمَضَتْ هٰذِهِ إِلَى الْعَدُوِّ (۳۸۶)وَجَاءَتْ تِلْكَ وَصَلّٰى بِهِمْ مَابَقِيَ وَسَلَّمَ وَذَهَبُوا اِلَيْهِمْ وَجَاءَتِ الأُوْلٰى وَأَتَمُّوا) بِلاَقِرَاءَةٍ وَسَلَّمُوا وَمَضَوْا (۳۸۷)ثُمَّ الأُخْرٰى وَأَتَمُّوا بِقِرَاءَةٍ

ترجمه :كه خوف شديد شوله دښمن څخه ياله ځناورڅخه نوودي دروي امام يوه ټولى ددښمن په مقابل كې اودوهمې ټولى ته دي يوركعت لمونځ وركړي اودوه ركعته كه مقيم وو اوولاړه دې شي داټولى ددښمن لورته اوهغه بله ټولى دي راشي اوهغې ته دي مابقى لمونځ وركړي اوسلام دي وگرځوي اوداټولى دي ولاړه شي ددښمن لورته اواولنى ټولى دي راشي اوخپل لمونځ دي پوره كړي بغيرله قرأة څخه اوسلام دي وگرځوي اوولاړه دي شي بيادي دوهمه ټولى راشي اوخپل لمونځ دي پوره كړي له قرأة سره.

تشريح ،ښه خو داده چې د دښمن یا کوم ځناور ځخه دویري په صورت کې امام یوه ټولی د دښمن مقابلې ته ولیږدوي او دوهمې ټولی ته پوره لمونځ ورکړي او دا د دښمن مقابلې ته ولیږدوي او امام وقت د دوهمې ټولی (کومه چې د دښمن په مقابل کې وه) ځخه یو کس ته حکم وکړي چې هغه دي دوئ ته پوره لمونځ ورکړي .(كذا في الدر المختار على هامش رد المحتار ؛ ۱/۶۲۶)

(۳۸۵)لیکن که چیرته خلکو په یوه امام پسې دلمانځه په اداء کولو اصرار کاوو په بل پسې دلمانځه اداء کولو ته تیارنه وو نو بیا که د فجر یا جمعه یا سفر دوه رکعته لمونځ وو نو امام وقت دي خلک په دوه ټولیو کې تقسیم کړي یوه دي د دښمن په مقابل کې ودروي تر ځوله د ښمن ځخه کوم تکلیف پیښ نه شي او دوهمې ټولی ته دي یو رکعت لمونځ ورکړي او که ځلور رکعتي لمونځ وو او دا خلک مقیم وو نو دوه رکعته لمونځ دي ورکړي نو کله چې امام په اول صورت کې د اول رکعت او په دوهم صورت کې د دوهم رکعت له سجدي ځخه سر را وچت کړي نو دا ټولی دي پیاده د دښمن مقابلې ته ولاړه شي .

(۳۸۶)او هغه ټولی چې د دښمن په مقابل کې وه هغه دي راشي او په امام پسې دي ودریږي امام دي دوئ ته باقی مانده لمونځ ورکړي او سلام دي وګرځوي ولی چې د امام لمونځ پوره شو مګر دا ټولی دي سلام نه ګرځوي بلکه د دښمن مقابل ته دي ولاړه شي ،او نو اوله ټولی که یې خوښه شوه نو چیرته چې یې اول رکعت اداء کړی وو هغه ځای ته دي راشي او خپل لمونځ دي پوره کړي او که یې خوښه شوه نو په کوم ځای کې ده په هغه ځای کې دي هر یو خپل لمونځ پوره کړي ښه داده چې اولنی ځای ته راشي كما في الشامية:ومشى في الكافي على ان العود افضل (رد المحتار: ۱/۶۲۶)،او د دوئ دا رکعت به بغیر له قرأة ځخه وي ولی چې دا خلک په تحریمه کې له امام سره دشریک وو له امله لاحق دي او په لاحق باندي قرأة نشته ، او س د دي ټولی لمونځ پوره شو لهذا سلام دي وګرځوي او د دښمن مقابلې ته دي ولاړه شي .

(۳۸۷)قوله ثم الاخرى اى ثم تجيئ الطائفة الاخرى ،دوهمه ټولی چې چیرته یې خوښه وي که اول ځای ته راځي او که په کوم ځای کې چې ده هلته دي خپل یو یو رکعت لمونځ وکړي او سلام دي وګرځوي د دوئ به په دي رکعت کې قرأة کوي ولی چې دا خلک له امام سره په شروع کې شریک نه وو په دي وجه مسبوق دي او پر مسبوق قرأة واجب دی ځکه به دا خلک قرأة لولی .دصلوة خوف په باره کې اصل دحضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه روایت دی چې نبی کریم ﷺ په پورته ذکر شوي طریقې سره صلوة خوف اداء کړی وو ،امام ابو یوسف رحمه الله فرمایي چې صلوة خوف دنبی کریم ﷺ په زمانه کې مشروع وو او س مشروع نه دی .

ف:دطرفینو په نزد صلوة خوف او س هم مشروع دی او دوئ قول راجع دی كما في الدر المختار:صلوة الخوف هي جائزة بعدنبى ﷺ عندهما اى عند ابى حنيفة و محمد خلافا للثاني و لهما ان الصحابة اقاموها بعده ﷺ (الدر المختار مع الشامية: ۱/۶۲۵)

ف:شرط داده چې لمونځ کونکی به پښو خې نو که سپور شو د ده لمونځ باطلیږي ولی چې دعمل کثیر له امله لمونځ باطلیږي په پښو تلل هم که څه هم عمل کثیر دی مګر د ضرورت له کبله د دي اجازت ورکړل شوی دی كما في الشامية: لان الركوب عمل وهو كثير وهو مما لا يحتاج اليه بخلاف المشي فانه امر لابد منه حتى يصطفوا ازاء العدو الخ......و الواجب ان يذهبوا مشاة فلو ركبوا بطلت لانه عمل كثير (رد المحتار: ۱/۶۲۶)

ف: د مصنف رحمه الله له عبارت ان اشتد الخوف څخه په ظاهر دا معلومیږي چې د صلوة خوف لپاره اشتداد خوف شرط دی حال دا چې د عامة المشائخ په نزد اشتداد خوف شرط نه دی بلکه د دښمن حاضریدل شرط دي.

(۳۸۸) وَصَلّٰى فِي الْمَغْرِبِ بِالْأُولٰى رَكْعَتَيْنِ وَبِالثَّانِيَةِ رَكْعَةً (۳۸۹) وَمَنْ قَاتَلَ بَطَلَتْ صَلَاتُهُ (۳۹۰) فَإِنِ اشْتَدَّ الْخَوْفُ صَلَّوْا رُكْبَانًا فُرَادٰى بِالْإِيمَاءِ إِلٰى أَيِّ جِهَةٍ قَدَرُوْا (۳۹۱) وَلَمْ تَجُزْ بِلَا حُضُوْرِ عَدُوٍّ

ترجمه: او وردي کړي په ماښام کې اولې ټولۍ ته دوه رکعته او دوهمې ټولۍ ته یو رکعت، او چا چې قتال وکړنو دهغه لمونځ باطلیږي، او که خوف ډیر شونو خلک دي د سورتیا په حالت کې تنها تنها په اشاره سره لمونځ وکړي په کوم لوري چې قادر وي، او صلوة خوف جائز نه دی د دشمن له حضور څخه بغیر.

تشریح: (۳۸۸) د ماښام لمونځ دي په دې شان وکړي چې اولې ټولۍ ته دي دوه رکعته ورکړي او دوهمې ټولۍ ته دي یو رکعت ورکړي ولې چې دخوف په لمانځه کې به امام هرې ټولۍ ته نیم نیم لمونځ ورکوي او دماښام دلمانځه نیمایي یو پوره رکعت او یو نصف رکعت دی، ښکاره خبره ده چې دیوه رکعت تنصیف نشي کیدای په دې وجه موږ وویل چې اولې ټولۍ ته به د سبقت له امله دوه رکعته ورکوي او دوهمې ټولۍ ته به یو رکعت لمونځ ورکوي.

(۳۸۹) یعنی دلمانځه په حال کې دي قتال (جنګ) نه کوي که چا دلمانځه په حالت کې قتال (جنګ) وکړنو دده لمونځ باطلیږي ولې چې دغزوه احزاب په موقع دنبي کریم ﷺ څلور لمونځونه قضاء شول کوم چې نبي کریم ﷺ وروسته قضا راوړل نو که دلمانځه په حالت کې قتال جائز وای نو نبي کریم ﷺ به دا لمونځونه په خپل وخت کې اداء کول نه پریښودل.

ف: د امام مالک رحمه الله په نزد دلمانځه په حال کې په قتال (جنګ) کولو سره لمونځ نه فاسدیږي لقوله تعالی (وليأخذوا حذرهم واسلحتهم) وجه استدلال داده چې په ایت شریف کې په لمانځه کې د دنه د اسلحې د راخیستلو امر شوی دی او ښکاره خبره ده چې دلمانځه په حالت کې اسلحه راخیستل د قتال لپاره وي لهذا ثابته شوه چې دلمانځه په حالت کې قتال کول جائز دی احناف ځواب ورکوي چې دلمانځه په حالت کې د اسلحې د ځان سره ساتلو امر په دې وجه شوی دی چې د دشمن د حملې په صورت کې زر کار ځیني واخیستل شي دا مطلب نه دی چې دلمانځه په حالت کې د قتال وکړي.

(۳۹۰) که د دښمن خوف د ومره اندازه شدید شو چې هغوئ مسلمانانو ته له سورلیو څخه د کښته کیدو او لمونځ اداء کولو موقع نه ورکوله نو په داسې صورت کې مسلمانانو ته په سورلیو د سپرتیا په حالت کې په اشاره سره د رکوع او سجدې کولو تنها تنها لمونځ اداء کول جائز دي لقوله تعالی ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا﴾ (یعنی که خوف وي نو لمونځ اداء کړئ په څمکه په درید وسره یا د سورلۍ په حالت کې)، که د قبلې لور ته مخ ګرځول ممکن نه وو نو کوم لورته چې یې خوښه وي مخ دي وګرځوي ولې چې د نورو ارکانو په شیر د ضرورت له کبله استقبال کعبه هم ساقطیږي.

ف: مګر دا په هغه وخت کې ده چې سپور مجاهد مطلوب وي او پرده دخوف غلبه وي که مجاهد طالب وو یو څوک یې تعقیب کړی وو نو په دې وخت کې (دخوف د نیستۍ له کبله) دده لمونځ نه صحیح کیږي کما فی الشامية (قوله صلوا ركبانا) اى ولو مع السير مطلوبين فالراكب لو طالبا لا تجوز صلوته لعدم الضرورة الخوف في حقه (رد المحتار: ۱/۶۲۶)

ف:په سورلی باندی دناستي قيدپه دي وجه دی چې دپياده تګ په وخت کي لمونځ جائز نه دی ولی چې پياده تګ عمل کثير دی اودتنهااداء کولوقيدپه دي وجه لګول شوی دی چې په جماعت سره دلمانځه اداء کولوله پاره دمکان متحدوالی ضروري دی اوظاهره ده چې دسورلی په حالت کي دسپرومکان متحدنه وي ،که دوه ياله دوو څخه زيات کسان له امام سره په سورلی باندی سپاره وو نودوئ لره په جماعت سره لمونځ اداء کول صحيح دي ولی چې په دي صورت کي دامام اومقتديانومکان متحددی کمافی الهندية :ولايصلون بجماعة ركبانا الا ان يكون الامام والمقتدى على دابة ليصح اقتداء المقتدى به.(هندية:١/١٥٦)

(٣٩١)قوله ولم تجز بلاحضور عدو اى لم تجز صلوة الخوف بلاحضور عدو ،يعنی پورته ذکرشوی تفصيل په هغه وخت کي دی چې دشمن حاضروي که دشمن حاضرنه وو نوصلوة خوف جائزنه دی ولی چې ضرورت نشته حتی که يې له لري څخه څه وليدل اوپه هغه يې ددښمن خيال وکړاوصلوة خوف يې اداء کړمګر وروسته معلومه شوه چې هغه دښمن نه وو نوددي لمانځه اعاده به کوي.

باب الجنائز

داباب دجنازي په بيان کي دی

جنائز دجنازة جمع ده اوجنازة دجيم په فتح سره مری ته ويل کيږي اودجيم په کسره سره هغي تختي ته ويل کيږي په کوم چې مرده اېښودل کيږي ،په باب الجنائز کي اضافة له قبيلي داضافة الشئ الی سببه څخه دی .

له ماقبل سره مناسبت دادی چې مصنف صاحب رحمه الله دژوندانه دلمانځه له بيان څخه فارغ شونودمرګ دلمانځه بيان يې شروع کړ،خاص له صلوة خوف سره يې مناسبت دادی چې قتال کله کله مرګ ته مفضی کيږي په دي وجه مصنف رحمه الله له صلوة خوف وروسته دجنازي دلمانځه بيان ذکرکړ.

(٣٩٢)وَوُجِّهَ المُحْتَضَرُ القِبْلَةَ عَلَى يَمِينِهِ (٣٩٣)وَلُقِّنَ الشَّهَادَةَ (٣٩٤)فَإِنْ مَاتَ شُدَّ لَحْيَاهُ وَغُمِّضَ عَيْنَاهُ (٣٩٥)وَوُضِعَ عَلَى سَرِيرٍ مُجَمَّرٍ وِتْرًا وَسُتِرَ عَوْرَتُهُ وَجُرِّدَ وَوُضِّئَ بِلَا مَضْمَضَةٍ وَاسْتِنْشَاقٍ (٣٩٦)وَصُبَّ عَلَيْهِ مَاءٌ مُغْلًى بِسِدْرٍ أَوْ حُرُضٍ وَإِلَّا فَالْقَرَاحُ

ترجمه:متوجه دي کړای شي هغه څوک چې مرګ ته نژدي شي دقبلي طرف ته په راسته اړخ،اوتلقين دي وشي دشهادت، نوکه مړشونو دي تړل شي ددزني اوبندي دکړای شي دده سترګي ،اوپه داسي تخته دي کېښودل شي په کومي چې په طاقوواروسره خوشبويي لګول شوي وی ،اوپټ دي کړای شي دده فرض ،اوجامي دی تري وايستل شي اواودس دي وروکړای شي له مضمضي اواستنشاق څخه بغير، اوپردده دي داسي اوبه توئ کړای شي کوموته چې دبيري له پاڼوسره ياله زميوسره جوش ورکړل شوی وي ،که نه نو خالصي اوبه.

تشريح:(٣٩٢)يعنی کله چې انسان مرګ ته نژدي شي نودی دي په راسته اړخ دقبلي لورته څملول شي ولی چې دمرده په قبرکي دا اېښودلو همدا کيفيت مسنون دی لهذا پردي په قياسولو سره قريب المرګ هم بايدپه همدي کيفيت سره کښېښودل شي دځينوپه نزدستونې ستغ څملول مختاردي ولی چې دادروح دوتلو لپاره

ډيراسان هيئت دى ،مګرداپه دي وجه مشكل ده چي داخوپه نقل سره معلوميږي چي په دي صورت كښ روح په اسانۍ سره وځي ،هوداويل صحيح دي چي په دي صورت كښ دمرده سترګي ورپټول اسان دي .

ف:مګراول كيفيت مسنون دى كمافي الشامية:وتعقبه في الفتح وغيره بانه لايعرف الانقلا والله اعلم بالأيسر منهما ولكنه ايسر لتغميضه وشدلحيه (ردالمحتار:١/٦٢٧)قريب المرګ ته محتضرپه دي وجه ويل كيږي چي ده ته مرګ ياملک الموت حاضريږي .

(٣٩٣)قريب المرګ كس ته دي له غرغري ځخه وړاندي دشهادت تلقين وكړي يعنى ده ته نژدي دي په لوړاوازسره كلمه شهادة ووايي﴿لقوله ﷺ لَقِّنوا موتاكم شهادةَ أن لا إلهَ إلّا الله﴾(يعنى تاسي خپلومړوته دكلمه شهادت تلقين وكړئ) له موتى ځخه مرادقريب المرګ دى مګرمړه كيدونكى ته دي دكلمې دويلوحكم نه كوي ولى چي دادسختى حالت دى هسي نه چي انكاروكړي ،اوله يوځل كلمې لوستلوځخه وروسته دي دوهم ځل تلقين نه كوي كه په منځ كښ هغه كومه خبره وكړه نودوهم ځل دي تلقين وكړي ترڅوكلمه شهادة دهغه اخري خبره شي كمافي الهندية:فاذاقالهامرة لايعيدهاعليه الملقن الاان يتكلم بكلام غيرها وهذاالتلقين مستحب بالاجماع.(هندية ١/١٥٧:)

ف:يوتلقين له دفن كولوځخه وروسته هم مشروع دى دكوم طريقه چي داده چي له دفن ځخه وروسته دي ووايي يافلان ابن فلان اذكر دينک الذى كنت عليه من شهادة ان لااله الاالله وان محمدارسول الله وان الجنة حق والنارحق وان البعث حق وان الساعة آتية لاريب فيهاوان الله يبعث من فى القبوروانک رضيت بالله رباوبالاسلام ديناوبمحمدنبياوبالقران اماماوبالكعبة قبلة وبالمؤمنين اخوانا.(ردالمحتار:١/٦٢٩)

(٣٩٤)له مرګ وروسته دي دمرده زنې په جامه يابل شي سره وتړي اودده دواړه سترګي اوخوله دي وربنده كړي ولى چي همداطريقه له سلفوځخه منقوله ده اوپه دي كښ دمرده تحسين هم دى اودسترګودپټول په وخت كښ دي دادعاء ولولي بِسْمِ اللهِ وَعَلَى مِلَّةِ رسول الله اللَّهُمَّ يَسِّرْ عليه أمرَهُ وسَهِّلْ عليه ما بَعْدَهُ وأَسْعِدْهُ بلقائك واجْعَلْ ما خرجَ إليه خيرًا ممّا خرجَ عنه.

ف:له مرګ ځخه وروسته دمرده قريبانوته دمرګ خبروركول جائز دي ترڅودجنازي په لمانځه كښ ډيرخلک شركت وكړي اوكه مرده كوم عالم ،زاهديامتبرک كس وو نوپه شهركښ دده دمرګ اعلان كول مستحسن دي كمافى شرح التنوير:ويعلم به جيرانه وأقرباؤه قال ابن عابدين (قوله ويعلم به جيرانه واقرباؤه)قال فى النهاية فان كان عالمااوزاهدااوممن تبرک به فقداستحسن بعض المتاخرين النداء فى الاسواق لجنازته وهو الاصح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار:١/٦٣٠)

(٣٩٥)يعنى كله چي مرده ته دغسل وركولواراده وكړي نومرده دي په كومه تخته باندي ځملوي اوپه تخته دي په دي وجه ځملوى ترڅواوبه له مرده ځخه توى شي ،بيادي دمرده تختې ته په طاقوواروسره خوشبوئي وركړل شي ولى چي په دي كښ دمرده تعظيم دى ،اوطاق واري په دي وجه چي نبى كريم ﷺ فرمايلي دي﴿إنّ الله وِترٌ يحبّ الوِترَ ﴾(يعنى الله تعالى وتردى اووترخوښوى)،بيادي دده په واجب السترانداموباندي جامه واچول شي ولى چي سترعورت فرض دى اودمرده جامې دي وايستلي شي ترڅوچي ددتطهيرممكن شي ،بيادي مرده ته اودس وروكړي بې له خولې اوپوزي پريمنځلوځخه ولى چي دمرده په خوله اوپوزه كښ اوبه اچول اوبيارا ايستل متعذردي .

ف: يو قول دادی چې په لانده تو كرسره دي مضمضه او استنشاق وروكړي يعنى لوند تو كړدي په غاښو او پوزه كې ورتير كړي نو بنه خبره ده. (احسن الفتاوى: ۴/۲۴۸)

(۳۹۶) بيا دي له او دس وركولو څخه وروسته دژوند په حال په قياس كولو سره د مرده په بدن باندي اوبه توى كړي، اوپه كوم اوبو سره چې مرده ته غسل وركول كيږي په هغوكې دي ديري پاڼې يا اشنان (يو قسم وابنه دي كوم چې په لاس پريمنځلو كې استعماليږي) واچوي او جوش دي كړي او كه دا شيان موجود نه وو نو په خالصو اوبو سره دي غسل وركړي او كه ممكنه وه گرمي دي كړي ولى چې دا په پاكى كې ابلغ دي.

(۳۹۷) وَغُسِلَ رَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ بِالْخِطْمِيِّ (۳۹۸) وَأُضْجِعَ عَلَى يَسَارِهِ فَيُغْسَلُ حَتَّى يَصِلَ الْمَاءُ إِلَى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ ثُمَّ عَلَى يَمِينِهِ كَذَلِكَ (۳۹۹) ثُمَّ أُجْلِسَ مُسْنَدًا إِلَيْهِ وَمُسِحَ بَطْنُهُ رَفِيقًا وَمَا خَرَجَ مِنْهُ غَسَلَهُ وَلَمْ يُعِدْ غُسْلَهُ وَنُشِّفَ بِثَوْبٍ

ترجمه: او و دي پريمنځل شي د مرده سر او ږيره په گل خطمي سره، او په راسته اړخ دي څملول شي او و دي پريمنځل شي ترڅو چې او به هغه برخې ته ورسيږي كومه چې له تختې سره نښتې ده او بيا دي په كيڼ اړخ په همدي شان سره څملول شي او و دي پريمنځل شي، بيا دي كښينوي تكيه دي وركړي او و دي مښل شي د ده نس اهسته اهسته او څه چې راووځي له ده څخه او غسل دي نه راگرځوي او وچ دي كړي په تو كرسره.

تشريح: (۳۹۷) قوله وغسل راسه ولحيته بالخطمى اى وغسل راس الميت ولحيته بالخطمى، يعنى د مرده سر او ږيره دي په گل خطمي (يو قسم خوشبو لرونكى عراقى وابنه دي كوم چې د صابن كار كوي) سره وروپريمنځل شي ولى چې دا خيري لري كوي كه گل خطمي نه وو نو صابن وغيره دي استعمال كړي.

(۳۹۸) له دي ټولو كارو څخه له فراغت وروسته دي مرده په راسته اړخ باندي څملوي او و دي مينځي او دومره او به دي پري توى كړي چې لاندنى برخې ته كومه چې له تختې سره نښتې ده او به ورسيږي. بيا دي په كيڼ اړخ څملول شي او همدا عمل دي وكړي دا ترتيب په دي وجه دی ترڅو غسل له راسته اړخ څخه شروع شي.

(۳۹۹) بيا دي غسل وركونكى مرده ته تكيه وركړي او لږ دي راپورته كړي او په نرمه طريقه سره دي د مړي په نس لاس تير كړي ترڅو چې د مرده په نس كې كه كوم څه وو چې هغه راووځي وروسته كفن خراب نه كړي. له نس مښلو څخه وروسته كه كوم څه راووتل نو هغه دي د نجاست دازالې لپاره و مينځي مگر دا و داسې اوغسل دا عادي ضرورت نشته ولى چې خروج نجاست د مرده په حق كې ناقض نه دى او مامور به غسل په يو ځل وركولو سره حاصل شو. له غسل څخه وروسته دي د مرده بدن په پاكه جامه سره وچ كړي ترڅو كفن لوند نه شي او له دي وروسته دي مرده ته كفن وركړي.

ف: كه څوك معذورو و له كوم څخه نجاست بهيدو نو پرده په همدي حالت كې د جنازي لمونځ اداء كول صحيح دي كما فى الشامية: اذا تنجس الكفن بنجاسة الميت لايضر دفعا للحرج بخلاف الكفن المتنجس ابتداء اه و كذا لو تنجس بدنه بما خرج منه ان كان قبل ان يكفن غسل وبعده لا (ردالمحتار: ۱/۶۳۰)

(۴۰۰) وَجُعِلَ الْحَنُوطُ عَلَى رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ وَالْكَافُورُ عَلَى مَسَاجِدِهِ (۴۰۱) وَلَا يُسَرَّحُ شَعْرُهُ وَلِحْيَتُهُ وَلَا يُقَصُّ ظُفُرُهُ وَشَعْرُهُ (۴۰۲) وَكَفَنُهُ سُنَّةً إِزَارٌ وَقَمِيصٌ وَلِفَافَةٌ (۴۰۳) وَكِفَايَةً إِزَارٌ وَلِفَافَةٌ (۴۰۴) وَضَرُورَةً مَا يُوجَدُ (۴۰۵) وَلُفَّ مِنْ يَسَارِهِ ثُمَّ مِنْ يَمِينِهِ وَعُقِدَ إِنْ خِيفَ انْتِشَارُهُ

ترجمه: اوخوشبو دې ولګوي د ده پر سر او ږيره باندې او د سجدې په اندامونو دې کافور ورولګوي، او نه دې ږمنځوي د ده ويښتان او ږيره او نه دې پرې کوي د ده نوکان او ويښتان، او د نارينه مسنون کفن ازار، قميص او لفافه دی، او کفايې کفن ازار او لفافه دی، او ضروري کفن هغه دې چې ميسر شي، او راوا به يې ړوي له کين طرف نه ښي اله ښي طرف نه، او غوټه دې ورکړي که د کفن د خلاصيدلو خوف وو.

تشريح: (۴۰۰) د مړده پر سر او ږيره دې حنوط ورولګوي (حنوط له څو خوشبوئي لرونکو شيانو څخه د جوړ وشويو عطرو نوم دی) مراد دا چې هر قسم خوشبووي البته زعفران او ورس دې پر نارينه باندې نه وهي لکه څرنګه چې په ژوندکې د نارينه و لپاره دا ممنوع دي، کوم اندامونه چې په سجده کې په ځمکه لګيږي پر هغو دې کافور ولګوي ولې چې مړده ته خوشبوئي ورلګول سنت دي او د سجدې اندامونه د ده ير عزت لائق دي او کافور له چينجيانو څخه د ساتنې ذريعه هم دي.

(۴۰۱) يعنې د مړده سر او ږيره دې نه ورږمنځوي ولې چې له حضرت عائشه رضي الله عنها څخه په دې باره کې پوښتنه وشوه نو هغې رضي الله عنها وفرمايل، عَلَامَ تَنُصُّوْنَ مَيِّتَكُمْ (تاسې ولې خپل مړده د ويښتانو په نيولو سره کشوئ) ګويا حضرت عائشه رضي الله عنها د مړده د ويښتانو په ږمنځولو ناراضی اظهار وکړيه دي وجه يې د ويښتانو ږمنځول په سر کشولو سره تعبير کړل، او همدا راز ويښتان د ښائست لپاره ږمنځيږي او مړده له له زينت څخه مستغني شوی دی، همدا شان دي د مړده نوکان او ويښتان نه پرې کوي ولې چې دا به هم د مړده د جزيئت له کبله شخول کيږي لهذا د جلا کولو يې څه معنی نشته.

(۴۰۲) يعنې کفن په درې قسمه دی (۱) کفن مسنون: کفن مسنون د نارينو په حق کې درې جامې دي (۱) ازار يعنې لنګ مګر له سر څخه ترپښو پوري مراد دی (۲) قميص: مګر بغير له جيب، لستونو او ګريوان څخه، له غاړې څخه ترپښو پوري، (۳) لفافه: کومه چې له سر څخه ترپښو پوري ترټولو بالا پرې پيچل کيږي، د نارينه لپاره د مذکوره دريو جامو په سنت والي دليل دادی چې نبی کريم ﷺ ته د سحوليه (په يمن کې ديو ځای نوم دی) د دريو سپينو جامو کفن ورکړل شوی وو.

(۴۰۳) قوله وکفاية ازار ولفافة ای من کفنه من حيث کفاية ازار ولفافة، يعنې د نارينو لپاره کفن کفايه دوه جامې دي ازار، لفافه، په کفن کفايه باندې دليل د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه قول دی کوم چې يې په مرض الموت کې فرمايلی وو چې زما دا دوه جامې ومينځئ او ماته په همدوئ کې کفن راکړی، همدا راز د ژوندی ادنی لباس دوه جامې وي نو له مرګ څخه وروسته هم په دوو جامو اکتفاء کول جائز دي.

(۴۰۴) قوله وضرورة ما يوجد ای وکفنه من حيث ضرورة ما يوجد، يعنې کفن ضرورت د نارينه په حق کې هغه دی کوم چې ميسروي ولې چې دا حديه ورځ چې کله حضرت مصعب ابن عمير رضي الله عنه شهيد شو نو ده رضي الله عنه ته يې يوه جامه کفن ورکړ.

(۴۰۵) پر نارينه د کفن خپرولو طريقه داده چې اول دي لفافه خپره کړي پر هغې برسيره دي ازار خپور کړي او مړده ته دی قيمص وراواغوستل شي او بيا ازار دی ځملول شي بيادي د ازار کين اړخ

پرلاوړوي پيادي بنى اړخ ترڅوچې بنى طرف لوړشي همداشان دي لفافه دي پري واړوي ،كه دكفن دخلاصيدلو خطره وه نولفافه دې دسراوپښودواړولوړته وتړي ترڅوكفن خلاص نه شي .

ف:كفن دي نه له ډيراعلى توكرڅخه وي اونه دي له ډيركمزوري توكرڅخه وي ،ښه داده چې سپين توكروي (لقوله ﷺ احب الثياب الى الله البيض فليلبسها احياكم و كفنوا فيها موتاكم) (يعنى سپيني جامې دالله تعالى خوښې دي نوستاسې ژوندي دي په تن كوي اوخپلو مردوته له دي څخه كفن وركوئ)ږ

ف:يوچاوصيت وكړچې ماته صرف په دووجاموكې كفن راكړئ ياماله فلانكى سره په قبركې ښخ كړئ نودده دوصيت لحاظ به نه كيږي ولى چې دده داوصيت له سنت څخه مخالف دى .اوكه يې داوصيت وكړچې زماجنازه دي فلانكى كس اداء كړي (په داسې حال كې چې دجنازي اداء كونكى بل حقدار موجودوي)نوداوصيت باطل دى ولى چې په دي كې دصاحب حق لپاره وحشت دى كمافى الشامية: (قوله والفتوى على بطلان الوصية)عزاه فى الهندية الى المضمرات اى لواوصى بان يصلى عليه غير من له حق التقدم اوبان يغسله فلان لايلزم تنفيذوصيته ولايبطل حق الولى بذالك وكذا تبطل لواوصى بان يكفن فى ثوب كذا(ردالمحتار:1/650)

(406)وَكَفَنُهَاسُنَّةًدِرْعٌ وَإِزَارٌ وَخِمَارٌ وَلِفَافَةٌ وَخِرْقَةٌ تُرْبَطُ بِهَاثَدْيَاهَا(407)وَكِفَايَةً إِزَارٌ وَلِفَافَةٌ وَخِمَارٌ (408)وَتَلْبَسُ الدِّرْعَ أَوَّلَاثُمَّ يُجْعَلُ شَعْرُهَاضَفِيرَتَيْنِ على صَدْرِهَافَوْقَ الدِّرْعِ ثُمَّ الْخِمَارُ فَوْقَهُ تَحْتَ اللِّفَافَةِ (409)وَتُجَمَّرُ الْأَكْفَانُ أَوَّلًا وِتْرًا

ترجمه:اودښځې مسنون كفن قميص ،څادر،پړونى ،لفافه اويوټوټه ده په كومي چې دهغې سينه تړل كيږي ،اوكفن كفايه ازار،لفافه اوپړونى دي ،اوورواردي غوسټل شي اول قميص بيادي له ويښتانوڅخه دوه كوڅې جوړي كړي اوپه سينه دي ايله كړي ترقميص بالااوبيادي پړونى پري بالاكړي ترلفافي لاندي ،اوخوشبويه دي كړي كفنونه مخكې په طاقوواروسره.

تشريح :(406)دښځې په حق كې سنت كفن پنځه جامې دي ازار،قميص ،پړونى ،لفافه اوخرقه يعنى سينه بندپه كوم چې دښځې سينه تړل كيږي ،دليل دحضرت ام عُطيه ﷺ حديث دى چې كله دنبى كريم ﷺ لورحضرت زينب ﷺ وفات شوه نوكوموښځوچې هغې ته غسل وركړنبى كريم ﷺ هغوئ ته داپنځه جامې وركړي وي .

(407)قوله وكفاية ازارولفافة وخمار اى كفنهامن حيث كفاية ازارولفافة وخمار .يعنى كفن كفايه دښځې په حق كې دري جامې دي ازار،لفافه اوپړونى ولى چې دادجاموهغه كم مقداردى چې ښځه يې په خپل ژوندانه كې په تن كوي اوپه كوموكې چې بلاكراهته لمونځ جائزدى له دريوڅخه كمې جامې كفن ضرورت دى كوم چې بلاضرورته مكروه دى .

(408)ښځې ته دكفن دوركولوطريقه داده چې اول دي قميص ورواغوسټل شي بيادي ويښتان دوه چوټي ورجوړكړي اوپه سينه دي وركښيږدي بيادي په دي برسيره پړونى اوبيائه لفافي لاندي دي ازارورواغوسټل شي .اوسينه بندبايدله لفافي څخه لاندي اوپرازار برسيره وى سينه بندله سينې څخه ترنامه پوري وي مګرښه داده چې ترورنوپوري وي كمافى الشامية :والاولى ان تكون من الثديين الى الفخذين (ردالمحتار:1/637)كذافى الهنديه:1/169)

ف:امام شافعي رحمه الله فرمايي چې دښځې ويښتان دي په دريوبرخوتقسيم کړي يوه حصه دي دشالورته واچوی ولی چې مروی ده چې حضرت ام عطيه درقيه بنت رسول الله ﷺ ويښتان په دريوبرخوويشلي وو ،احناف ځواب ورکوي چې داد حضرت ام عطيه فعل دی په حديث شريف کې ددي ذکرنشته ،اونه نبی کريم ﷺ دي ته داتعليم ورکړی وو ،اوويښتان دشالورته اړول دزينت لپاره وي اوحال داچې مرده له زينت څخه مستغني شوی دی .

ف:دکفن په باب کې خنثی مشکل دښځې په حکم کې دی يعنی دښځې په شان به احتياطاخنثی مشکل (يعنی نربښځی)ته هم په پنځوجاموکې کفن ورکوي ولی چې دنارينه والی په احتمال له دريوڅخه دزياتوجاموکفن ورکول مضرنه دي کمافي الشامية:(قوله وخنثی مشکل کامرأة فيه)ای فيکفن في خمسة اثواب احتياطالانه علی احتمال کونه ذکرالثالزيادة لاتضر(ردالمحتار:۱/۶۳۸)

(۴۰۹)قوله وتجمرالاکفان اولاوترای تعطرالاکفان قبل ان يدرج الميت فيهاوترا.يعنی مرده په کفن کې له داخلولوڅخه وړاندي په کفنونوپه طاق واروسره خوشبوئي لګول مسنون دي ولی چې نبی کريم ﷺ دخپلې لورپه کفنونودطاق وار خوشبوئي لګولوامرکړی وو له دي څخه وروسته دي په مرده باندي لمونځ اداء کړي .

ف:مرده لره په دريوموقعوکې خوشبوئي ورلګول مندوب دي کله چې روح ووځي .کله چې غسل ورکړي ،اوکله چې کفن ورکړل شي ،کمافي اللباب :فالمواضع التي يندب فيهاالتجميرثلاثة عندخروج روحه عندغسله وعندتکفينه (اللباب في شرح الکتاب علی هامش الجوهرة:۱/۱۳۶)

فصل

دافصل دصلوة علی الميت په بيان کې دی صلوة علی الميت دنبی کريم ﷺ له ارشادصلوعلی کل بروفاجر(لمونځ وکړئ په هرنيک اوفاجر)څخه ثابت دی ولی چې صلوادامرصيغه ده اوامردوجوب لپاره دی ،اوهمداراز دنبی کريم ﷺ ارشاددی چې دمسلمان پرمسلمان شپږحقوق دي له دي شپږوڅخه يوداچې دمسلمان دجنازي لمونځ اداءکړي ،همداراز دجنازي په فرضيت دامت اجماع ده ،البته دجنازي لمونځ فرض عين نه بلکه فرض کفايه دی چې دځينومسلمانانوپه اداء کولوسره دټولوله ذمې څخه ساقطيږي .

(۴۱۰)السلطان أحق بصلاته (۴۱۱)وهي فرض کفاية (۴۱۲)وشرطها إسلام الميت وطهارته (۴۱۳)ثم القاضي إن حضر (۴۱۴)ثم إمام الحي (۴۱۵)ثم الولي وله أن يأذن لغيره

ترجمه :بادشاه له ټولوڅخه زيات حقداردی دجنازي دلمانځه ،اوهغه فرض کفايه دی .اوشرطيې دمرده مسلمان والی او پاکوالی دی .بياقاضي حقداردی که حاضروو ،بيادکلی امام .بيادمرده ولی اودلره داحق شته چې بل چاته اجازه ورکړي .

تشريح :(۴۱۰)دجنازي دلمانځه داداء کولوحق ترټولولومړی سلطان لره دی په دي شرط چې سلطان حاضروي ولی چې دسلطان په حضورکې بل څوک امام جوړول دسلطان سپکاوی دی اوحال داچې دسلطان

تعظیم واجب دی ،اوله سلطان څخه مراد هغه کس دی کوم لره چې په خلګو ولایت حاصل وي که خلیفه وي او که دهغه نائب،امام محمد رحمه الله په کتاب الاصل کې ذکر کړي دي چې امام الحی له خلیفه څخه مقدم دی .

(۴۱۱)دجنازي لمونځ فرض کفایه دی ولی چې نبی کریم ﷺ دیومړده په باره کې فرمایلې وو چې﴿صلّوا علی صاحبکم﴾(تاسې په خپل ملګرې باندي دجنازي لمونځ وکړي)صلوا دامر صیغه ده او امر دوجوب لپاره دی ،دفرض عین نه کیدلو دلیل دادی چې که دجنازي لمونځ فرض عین وای نو ضرور به نبی کریم ﷺ خپله هم اداءکاوو حال داچې نبی کریم پخپله پرده له لمانځه اداءکولو څخه عذر بیان کړی وو .

(۴۱۲)اودجنازي دلمانځه لپاره شرط دادی چې مړده به مسلمان وي ولی چې پر کافر باندي دجنازي لمونځ جائزنه دی لقوله تعالی﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا ﴾(اولمونځ مه کوپر کوم یوه باندي له دوئ څخه کله چې مړشي)،همدا راز دجنازي لمونځ شفاعت دی اودکافر لپاره شفاعت فایده نه لري ،دوهم شرط دادی چې مړده به پاک وي نو که په مړده باندي نجاست لګیدلی وو یامړده ته غسل نه وورکړل شوی نو دده دجنازي لمونځ جائز نه دی ولی چې مړده من وجه امام دی په دي وجه چې مړده دقوم مخته ایشودل ضروري دی لهذا دده لپاره طهارت هم شرط دی .

(۴۱۳)قوله ثم القاضی ای ان حضرای ثم القاضی احق بصلاته ان حضر ،یعنی که سلطان نه وو نو بیا قاضی دامامت مستحق دی که حاضروو ولی چې قاضی لره په ټولو ولایت عامه حاصل دی .

(۴۱۴)قوله ثم امام الحی ای ثم امام الحی احق بصلاته ،یعنی که قاضی هم نه وو نو دکلی امام مخته کول مستحب دی ولی چې مړده په خپل ژوندانه کې دده په امام کیدلو راضی وو نو له مرګ څخه وروسته هم دی اولی دی ،لیکن داپه هغه وخت کې دی چې امام الحی دمړده له ولی څخه افضل وي که دمړده ولی افضل وو نو افضل ولی له امام الحی څخه مقدم دی کمافی الدرالمختار:تقدیم امام الحی مندوب فقط بشرط ان یکون افضل من الولی والافالولی اولی وهو احسن(الدرمع الشامیة: ۱/۶۴۹)

(۴۱۵)قوله ثم الولی ای ثم الولی احق بصلاته ،یعنی بیادمړده ولی دامامت مستحق دی اودمړده ولیان په استحقاق امامت کې په هغه ترتیب سره دي کوم ترتیب چې په ولایت نکاح کې مذکور دی ،مګر په نکاح کې دبنځې زوی پر پلار باندي مقدم دی اودلته پلار اولی بالامامت دی ،که دمړده دوه برابر ولیان وو مثلاً دوه سکني ورونه وو نو کوم چې په عمر کې مشروي هغه به مقدم وي ،اودمړده دقریب لپاره داهم جائزده چې کوم بل چاته دلمانځه اداءکولو اجازه ورکړي ولی چې لمونځ اداءکول دده حق دی نو ده لره داهم جائزده چې خپل حق ساقط کړي .

ف:پورته ذکرشوی ترتیب دسلطان اودهغه دنائب په حق کې واجب دی یعنی که سلطان موجود وو نو ده لره امام جوړول واجب دی حال داچې دامام الحی تقدیم دمړده په قریبانو باندي مستحب دی په دي شرط چې امام الحی دمړده له اولیاو څخه افضل وي کمافی شرح التنویر: وذالک ان تقدیم الولاة واجب وتقدیم امام الحی مندوب فقط بشرط ان یکون افضل من الولی والافالولی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار: ۱/۶۴۹)

(۴۱۵)فإن صلی غیر الولي والسلطان أعاد الولي(۴۱۶)ولم یصلِّ غیره بعده(۴۱۸)فإن دفن بلاصلاة صلی علی قبره مالم یتفسخ

ترجمه: او که د جنازې لمونځ اداء کړله سلطان او ولي څخه ماسوا بل چا نو ولي لمونځ را گرځولی شي، او لمونځ دي کوي بل څوک د ولي له اداء کولو څخه وروسته، او که ښخ کړای شو د جنازې له لمانځه څخه بغیر نو دده په قبر دي لمونځ اداء شي تر هغه پورې چې دی شوړیدلی نه وي.

تشریح: (۴۱۶) یعنی که په مړده ته له سلطان یا نائب سلطان، امام الحی او ولي څخه ماسوا بل چا لمونځ وړکړنو ولي د جنازې دلمانځه دېیرته را گرځولو حق لري ولې چې مړده ته دلمونځ ورکولو حق د مړده اولیاؤ دی او دا اعاده د اسقاط فرض لپاره نه بلکه د حق ولي له کبله ده ولې چې له دې څخه مخکې چې کوم خلکو لمونځ ورکړی دی فرض په هغه سره ساقط شول.

(۴۱۷) قوله ولم یصل غیره بعده ای اذا صلی الولي لم یصل غیره بعده، یعنی که ولي د جنازې لمونځ اداء کړنو له ده څخه وروسته چا له په مړده د جنازې بیا اداء کولو اجازه نشته ولې چې فرض خو مخکې اداء شول اوس چې کوم لمونځ کیږي هغه نفل دي او نفل په جنازه کې مشروع نه دي.

(۴۱۸) یعنی که یې مړده بغیر له لمانځه څخه دفن کړنو دده په قبر دې لمونځ اداء شي ولې چې یوه انصارۍ ښځه په داسې حال کې ښخه کړای شوه چې نبی کریم ﷺ په هغې د جنازې لمونځ نه و اداء کړی نبی کریم ﷺ ته چې کله معلومات وشو نو نبی کریم ﷺ د دې په قبر لمونځ اداء کړ.

ف: د ځینو حضراتو رایه داده چې په مذکوره صورت کې تر درېوورځو پورې په مړده د جنازې دلمانځه د اداء کولو اجازه شته مگر صحیح داده چې په قبر دلمانځه د اداء کولو اجازه د مړده له خرابیدو څخه تر مخکې پورې دی که درې ورځې وي که لږ بزیات وي او که غالب گمان دا شو چې مړده خراب شوی دی نو بیا دلمانځه د اداء کولو اجازه نشته. کمافي شرح التنویر: (وان دفن) واهیل علیه التراب (بغیر صلوة) او بها بلا غسل او ممن لا ولایة له (صلی علی قبره) استحسانا (مالم یغلب علی الظن تفسخه) من غیر تقدیر هو الاصح لانه یختلف باختلاف الاوقات حرا وبردا والامکنة والمیت سمنا وهزالا (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/۶۵۲)

دجنازې دلمانځه طریقه

(۹ ۳) وهي أربع تكبيرات بثناء بعد الأولى وصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم بعد الثانية ودعاء بعد الثالثة وتسليمتين بعد الرابعة (۴۲۰) فلو كبر خمسا لم يتبع (۴۲۱) ولا يستغفر لصبي ولا لمجنون ويقول اللهم اجعله لنا فرطا واجعله لنا أجرا وذخرا واجعله لنا شافعا مشفعا (۴۲۲) وينتظر المسبوق ليكبر معه لا من كان حاضرا في حالة التحريمة

ترجمه: او د جنازې لمونځ څلور تکبیرونه دي له ثناء سره له اول تکبیر څخه وروسته او په نبی کریم ﷺ له درود سره له دوهم تکبیر څخه وروسته او له دعاء سره له دریم تکبیر څخه وروسته او له دوو سلامونو سره له څلورم تکبیر څخه وروسته، او که امام پنځم تکبیر وایه نو د هغه متابعت به نه کیږي، او استغفار د نه کیږي د کوچنی لپاره بلکه دا دې وایې یا الله دا زموږ لپاره مخته تلونکی او اجر او ذخیره جوړه کړې بزموږ لپاره یې شفاعت کونکی او شفاعت قبول شوی جوړ کړې، او انتظار دې کوی مسبوق تر څو تکبیر له امام سره ووایې نه هغه کوم چې حاضر نه وي.

تشريح:(۴۱۹)يعنى دجنازي دلمانځه كيفيت دادى چې له نيت څخه وروسته دي تكبيرافتتاح ووايي بيادي دنورو لمونځوپه شان سبحانک اللهم وبحمدک الخ ولولي ،بيادي دوهم تكبيرووايي اوپه نبى كريم ﷺ دي درودشريف ووايي ولى چې دالله تعالى دثناء وروسته دنبى كريم ﷺ ددروددرجه ده لكه چې په تشهدكې همداترتيب دى اوپه همدي ترتيب خطبې وضع شوي دي ،بيادي له دريم تكبيرويلووروسته دځپل ځان لپاره دمرده لپاره اودټولو مسلمانانولپاره دعاء وكړي ولى چې دالله تعالى له حمداوپرنبى كريم ﷺ له درودڅخه وروسته ددعاء درجه ده لقوله ﷺ اذاارادا حدكم ان يدعو فليحمدالله وليصلي على النبى ﷺ ثم يدعو(يعنى په تاسې كې چې څوک ددعاء كولواراده وكړي نودالله تعالى حمداوپرنبى كريمؐ ﷺ دي درودووايي بيادي دعاء وكړي)نوكه يې ياده وه اومرده بالغ وو نوبنه خبره داده چې دادعاء ولولي اللهم اغفرلحينا وميتنا وشاهدنا وغائبنا وصغيرنا وكبيرنا وذكرنا وانثانااللهم من احييته فاحيه على الاسلام ومن توفيته فتوفه على الايمان ،بيادي له څلورم تكبيرڅخه وروسته سلام وګرځوي ولى چې نبى كريم ﷺ ترټولوپه اخري جنازه كې څلورتكبيرونه ويلى دي لهذاله څلورم تكبيرڅخه وروسته دتحليل وخت دى اوتحليل دسلام په ذريعه سره وي په دي وجه به سلام ګرځوي.

ف:دجنازي دلمانځه دتكبيرافتتاح ويلوپه وخت به دواړه لاسونه غوږوته پورته كړي اوپه نورو تكبيرونوكې به لاسونه نه اوچتوي ولى چې هرتكبيردپنځه وختې لمانځه دركعت په شان دى اوپه پنځه وختې لمانځه كې له اول ركعت څخه ماسوا په نورو ركعتونوكې رفع يدين نشته په همدي شان دجنازي دلمانځه تكبيرونه هم دي ،اوهمداراز له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه مروى ده انه ﷺ كان اذاصلى على جنازة رفع يديه فى اولى تكبيرة ثم لايعود(يعنى نبى كريم ﷺ چې به كله دجنازي لمونځ اداء كاوو نوداول تكبيرپه وخت كې به يې لاسونه اوچتول اوبيابه يې نه اوچتول).

ف:دجنازي دلمانځه دواړه سلامونه دي په لوړاوازسره وايي اودعام تعامل له كبله دي ته افضليت حاصلَ دى. (احسن الفتاوى :۴/۱۹۵)

(۴۲۰)قوله فلو كبر خمسالم يتبع اى لوكبرالامام خمس تكبيرات لم يتبع ،يعنى كه امام پنځم ځل الله اكبرووايه نومقتدى به دهغه متابعت نه كوي ولى چې نبى كريم ﷺ چې اخري دجنازي لمونځ اداء كړى دى په هغه كې دڅلوروتكبيرنوذكردى لهذاپه كوموروايا توكې چې دپنځو ،اوو يااتوتكبيرونوذكردى هغه منسوخ دي .

(۴۲۱)اوكه مرده كوچنى ياليونى وي نودهغه لپاره دي استغفارنه كوي ولى چې كوچنى اوليونى ګنهګارنه وي لهذاددوئ لپاره دي دادعاء ولولي اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا وَاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا مُشَفَّعًا (ياالله دازموږلپاره مخته تلونكى اواجراوذخيره جوړه كړي بزموږلپاره يې شفاعت كونكى اوشفاعت قبول شوى جوړكړي)،اوكه كوچنى انجلۍ وي نودمؤنث ضمائردي ذكركوي مثلاً اللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَاجْعَلْهَا لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا وَاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً مُشَفَّعَةً ،اوكه يې دادعاء يادنه وي نوكومه دعاء چې يې يادوي هغه دي ولولي .

ف:له مجنون څخه مرادهغه مجنون دى كوم چې له بلوغ څخه وړاندى مجنون شوى وي اوترمرګه پوري مجنون وي كه له بلوغ څخه وروسته مجنون شوى وي نوپه جنون سره دده مخكنى ګناه نه معافيږي

لهذا دا سې مجنون لپاره دي د مغفرت دعاء کوي کمافي الشامية :(قوله ومجنون ومعتوه)هذافي الاصلي فان الجنون والعته الطارئين بعد البلوغ لايسقطان الذنوب السالفة كمافي شرح المنية .(ردالمحتار:۱/۶۳۵)

(۴۲۲)که کوم شخص د جنازې په لمانځه کې مسبوق وي يعنی دده له راتلو څخه مخکې امام يو تکبير و وايه نو اوس چې دی حاضر شو دامام د دوهم تکبير انتظاربه کوي کله چې امام دوهم تکبير ووايي نو دی د خپل تکبير تحريمه ووايي ولی چې هر تکبير د رکعت په ځای ولاړ دی لهذا کوم تکبير چې فوت شوی وي مسبوق دي هغه نه شروع کوي ،مگر که کوم شخص له وړاندې لاحاضر وو مگر له امام سره يې تکبير ونه وايو نو هغه به د امام د دوهم تکبير انتظار نه کوي بلکه تکبير دي ووايي او له امام سره دي شريک شي ولی چې دی د مدرک په شان دی .

ف:دامام ابويوسف رحمه الله په نزد که مقتدي په داسې حال کې راورسيد چې امام څلورم تکبير ويلی وو مگر سلام يې نه وو گرځولی نو هم دي له امام سره شريک شي ولی چې تکبير تحريمه تر اوسه پوري شته دامام له سلام گرځولو وروسته دي صرف درې تکبيرونه ووايي په همدې قول فتوی ده ،کمافي الدرالمختار:(فلوجاء)المسبوق (بعدتكبيرة الامام الرابعة فاتته الصلوة)لتعذر الدخول في تكبيرة الامام وعندابي يوسف يدخل لبقاء التحريمة فاذا سلم الامام كبر ثلاثا كمافي الحاضر وعليه الفتوی ذكره الحلبي وغيره ،وقال ابن عابدين:(قوله وعليه الفتوی)اى على قول ابي يوسف في مسئلة المسبوق خلافا لما مشى عليه في المتن.(الدرالمختار مع الشامية: ۳/۲۰۱)

ف:که له چا څخه د جنازې د لمانځه څه تکبيرونه تير شول نو دامام له سلام گرځولو څخه وروسته که د جنازې د پورته کيدلو انديشنه وه نو داکس دي داتکبيرونه مسلسل ووايي ثناء ،درود وغيره دي نه وايي قال شارح التنوير :لم يكبران مافاتهما بعدالفراغ نسقا بلادعاءان خشيارفع الميت على الاعناق (ردالمحتار:۱/۶۳۷)

(۴۲۳)وَيَقُومُ مِنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ بِحِذَاءِ الصَّدْرِ (۴۲۴)ولم يصلوا رُكْبَانًا (۴۲۵)وَلَا فِي مَسْجِدٍ (۴۲۶)وَمَنِ اسْتَهَلَّ صُلِّيَ عَلَيْهِ (۴۲۷)وَإِلَّا لَا

ترجمه :او امام دي د ريږي د نرا و د ښځې د سينې په برابري ،او لمونځ دي نه کوي په دسې حال کې چې سپاره وي ،او نه په مسجد کې ،او کوم کوچنی چې اواز وکړي نو پر ده دي لمونځ اداء شي ،که نه نو نه .

تشريح :(۴۲۳)يعنې لمونځ ورکونکی دي د مړه د سينې په برابر ودريږي دا مستحب ده که مړه نروي که ښځه وي ولی چې دا دزړه ځای دی او په زړه کې د ايمان نور وي نو د دې ځای په برابرۍ کې په دريدلو سره دې لورته اشاره ده چې امام دده د ايمان سفارش کوي .

ف:د احنافو په نزد د جنازې د لمانځه له شرائطو څخه يو شرط دا هم دی چې د مړه لاش به مخامخ موجود وي همدا الامل دی چې احناف د غائبانه صلوة جنازې قائل نه دي ،باقی د نامداره خلکو پر مرگ د ملک په اوږده او ساره کې د دوی جنازې او د حنفي مسلک د خلکو په دې کې شرکت يوه سياسې حربه ده د کوم چې له مسلک او مذهب سره هيڅ تعلق نشته، دا محض د عوامو د خوشحالولو لپاره کيږي له کوم څخه چې ځان ساتل ضروري ده .(فتاوی حقانية،۳/۴۴۴)

(۴۲۴)يعنې په کوم مړه باندې دې د سورلی په حالت کې لمونځ نه کوي دا استحسان دی قياس د جواز تقاضا کوي ولی چې د جنازې لمونځ دعاء ده کوم چې د سورلی په حالت کې هم جائزه ده ،دا استحسان

وجه داده چې دجنازې لمونځ من وجه صلوة دى ولې چې دده لپاره هم هغه شرائط دي كوم چې دلمانځه لپاره دي لهذا دصلوة په شان دا هم دسورلۍ په حالت كول اداء كول جائز نه دي.

(۴۲۵)قوله ولافي مسجد جماعة اى لايصلى في مسجد جماعة على جنازة ،يعني دجنازې لمونځ دې په مسجد كې نه اداء كوي ولې چې په مسجد جماعت كې بغيرله عذر څخه دجنازې لمونځ اداء كول مكروه تحريمي ده﴿لقوله ﷺ من صلى على ميت في مسجد فلاشيء له﴾(چاچې په مسجد كې په مرده لمونځ اداء كړ دهغه لپاره هيڅ ثواب نشته).

ف:په مسجد كې دجنازې دلمانځه څوصورتونه دي ټول مكروه دي يعني كه صرف مرده په مسجد كې وو قوم اوامام له مسجد څخه دباندې وو ياقوم هم په مسجد كې وو يامرده له مسجد څخه دباندې وو اوقوم په مسجد كې وو ياامام ،مرده اوبعض قوم له مسجد څخه دباندې وو اونورقوم په مسجد كې وو كمافي الدرالمختار:(وكرهت تحريما)وقيل (تنزيها في مسجدجماعة)اى على الميت (فيه)وحده اومع القوم (واختلف في الخارجة)عن المسجدوحده اومع بعض القوم(والمختار الكراهة) مطلقا.(الدرالمختار على هامش الشامية:۶۵۳/ ۱)

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد په هيڅ حال كې هم مكروه نه دى ولې چې مروى ده چې نبى كريم ﷺ دسهيل بن مضياء دجنازې لمونځ په مسجد كې اداء كړ،زموږدليل دنبى كريم ﷺ ارشاددى ﴿من صلى على الميت في المسجدفلاشئ له﴾(چاچې په مسجد كې په مرده لمونځ اداء كړ دهغه لپاره هيڅ ثواب نشته).امام شافعي رحمه الله ته ځواب وركړل شوى دى چې نبى كريم ﷺ دعتكاف يادباران دعذرله كبله دسهيل بن مضياء دجنازې لمونځ په مسجد كې اداء كړى وو ،اودعذرله كبله موږهم دعدم كراهت قائل يو كمافي الشامية:(تتمة)انماتكره في المسجدبلاعذرفان كان فلاومن الاعذار المطر كمافي الخانية والاعتكاف كمافي المبسوط (ردالمحتار: ۶۵۴/ ۱)

(۴۲۶)يعني كه كوچنى له پيداكيدلو څخه وروسته اواز وكړيعني كوم داسې څه موجودشول كوم چې دكوچني په ژوند دلالت وكړي بيامړشونودي كوچني ته نوم هم ايښودل كيږي اوده ته غسل هم وركول كيږي اوپرده به دجنازې لمونځ هم اداء كيږي﴿لقوله ﷺ اذااستهل المولودصلى عليه وان لم يستهل لم يصل عليه﴾ (يعني كله چې كوچني اوازوكړي نوپرده دي دجنازې لمونځ اداء شي اوكه يې اوازونه كړنوپرده دى لمونځ نه اداء كيږي).

(۴۲۷)قوله والالاى وان لم يستهل لايصلى عليه ،يعني كه له پيداكيدلو څخه وروسته په كوچني كې دژوندانه كوم علامت نه شومعلوم نوده لره به دبني ادم داولاددتكريم له امله دكفن په شان په يوه ټوټه كې وپيچل شي اوپرده به دجنازې لمونځ نه اداء كيږي لماروينا.

ف:مختارداده چې غسل وركړل شي كمافي شرح التنوير:(والا)يستهل (غسل وسمى)عندالثاني وهو الاصح فيفتى به على خلاف ظاهرالرواية اكرامالبني ادم كمافي ملتقى البحار.(الدرالمختار على هامش ردالمحتار:۶۵۵/ ۱)

ف:خودكشي كونكى (يعني ځان پخپله وژونكى)كه څه هم گنهگاردى مگركافرنه دى په دې وجه پرده دجنازې لمونځ فرض دى همداراز دده لپاره دمغفرت دعاء كول اوايصال ثواب جائزدى .(احسن الفتاوى ۲۰۶/ ۴)

(۴۲۸)كصبي سبي مع احدابويه (۴۲۹)(الاان يسلم احدهما اوهواولم يسب احدهمامعه (۴۳۰)ويغسل ولي مسلم الكافرويكفنه ويدفنه

ترجمه: لکه څرنګه چې په هغه کوچنی (لمونځ نه اداء کیږي) کوم چې بندی کړای شي له مورا وپلار څخه له یوه سره، مګر دا چې له مورا وپلار څخه یو یا پخپله کوچنی مسلمان شي یا نه وي بندي کړل شوی له مورا وپلار څخه یو له کوچنی سره، او غسل ورکولی شي مسلمان قریب کافر ته او کفن ورکولی شي او دفن کولی یې شي.

تشریح: (۴۲۸) قوله کصبی سبی ای کما لایصلی علی صبی اسر مع احدابویه ،یعنی لکه څرنګه چې په هغه کوچنی باندې دجنازې لمونځ نه اداء کیږي کوم کوچنی چې له خپلې مور یا پلار سره له دارالحرب څخه د مور سره بندي شي او په بندګې مړشي په داسې حال کې چې دده والدین کافروي ولی چې په دې صورت کې کوچنی د مورا وپلار د متابعت له امله کافر ګڼل کیږي او د کافر د جنازې لمونځ نشته.

(۴۲۹) البته که دداسې کوچنی له والدینو څخه یوه اسلام قبول کړنو یا به پرده دجنازې لمونځ اداء کیږي ولی چې کوچنی په دین کې د خیر الابوینو تابع وي یا کوچنی پخپله اسلام قبول کړنو یا به هم دده د جنازې لمونځ اداء کیږي ولی چې استحساناً دده اسلام قبولول صحیح دي ،یا صرف کوچنی بندي شي دده والدین نه وي بندیان نو د دار الاسلام د متابعت له کبله مسلمان ګڼل کیږي په دې وجه به دده د جنازې لمونځ اداء کیږي.

(۴۳۰) که د کوم کافر قریب مسلمان وي کافر مړ شو نو دده دا مسلمان قریب دی ده لره غسل ورکړي بیا دې کفن ورکړي بیا دې ښخ کړي ولی کوم وخت چې ابوطالب مړ شو نو حضرت علی ﷺ نبی کریم ﷺ ته خبر ورکړ نبی کریم ﷺ وفرمایل فاغسله وکفنه وادفنه (یعنی ده ته غسل ورکړه او کفن ورکړه او دفن یې کړه)، مګر مسنون غسل او کفن وغیره مراد نه دي بلکه د ناپاکې جامې په شان دې ومینځې او په ټوکرکې دې ویې چې او ښخ دې کړي ولی چې په مسنون طریقه سره غسل وغیره کرامة وتعظیماً ورکول کیږي حال دا چې کافر د تعظیم مستحق نه دی.

ف: دا پورته ذکر شوی حکم د کافر اصلی دی د مرتد حکم دا نه دی بلکه هغه دې بې له غسله او کفنه د سپی په شان په کنده کې وغورځول شي کما فی شرح التنویر: اما المرتد فیلقی فی حفرة کالکلب ولا یغسل ولا یکفن ولا یدفع الی من انتقل الی دینهم (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/۶۵۷)

ف: په دې حادثاتی (یعنی له پیښو څخه ډکې) زمانه کې ځینې وختونه څه داسې پیچلې مسائل پیښیږي د کوم چې حل په هغه وخت کې مشکل وي په دې وجه دلته د ځینو داسې پیچلو مسائلو حل لیکل کیږي (۱) کوم لاش چې وپرسیږي او پټاو شي ده هغه د جنازې لمونځ ساقط دی همدا شان چې د کوم لاش غوښه وغیره ټول سره جلا شوي وي او صرف هډوکې یې پاتې وي نو هغه د غسل ورکولو ضرورت نشته او نه دده د جنازې لمونځ اداء کیږي بلکه په یوه پاکه ټوټه کې دې ویې چې او دفن دې کړي کما فی البحر: (قوله وصلی علی قبره مالم یتفسخ) وقید بعدم التفسخ لانه لا یصلی علیه بعد التفسخ لان الصلوة شرعت علی بدن المیت فاذا تفسخ لم یبق بدنه قائما (البحر الرائق: ۲/۱۸۲)

(۲) کوم لاش چې له خاورو څخلو وغیره څخه راکښل ممکن نه وي نو دده هغه د جنازې لمونځ به په هغه حالت کې اداء کیږي او غسل او کفن ورکول معاف دي کما فی الشامیه: (تنبیه) ینبغی ان یکون فی حکم من دفن بلا صلوة من

تردی فی نحو بئر او وقع علیه بنیان ولم یمکن اخراجه بخلاف مالو غرق فی بحر لعدم تحقق وجوده امام المصلی تامل (ردالمحتار: ۱/۶۵۲)، په دې شرط چې د مړه د عدم تفسخ ګمان به غالب وي د شک په حال کې بالاتفاق پر ده د جنازې لمونځ صحيح نه دی. (احسن الفتاوی: ۴/۲۱۱)

(۳) کوم لاش چې وسوځيږي او سکاره شي نو ده له غسل او کفن ورکول او د جنازې لمونځ ورکول هيڅ هم واجب نه دي بلکه په کوم ټوټه کې دې ونيچې او دفن دې کړي، او که د بدن اکثره برخه محفوظه وي يا ټول سوځيدلی وي مګر معمولی سوځيدلی وي غوبنه پوستکی او هډوکې سالم وي نو ده له به غسل او کفن ورکول کيږي او بايد د جنازې لمونځ يې ادا شي. (کذا فی فتاوی حقانية: ۳/۴۴۰)

(۴) که د مسلمانانو او غير مسلمانانو لاشونه سرګډوډ شول نو که په يوه طريقه سره هم د دوئ ترمنځ امتياز نشوای کيدای نو بيا به داکتل کيږي چې اکثريت د چا دی نو که اکثريت د مسلمانانو و نوله ټولو سره به د مسلمانانو په شان معامله کيږي البته د جنازې په لمانځه کې به صرف د مسلمانانو نيت کيږي ولې چې په کافرانو د جنازې د لمانځ نيت صحيح نه دی، او که د کافرانو لاشونه ډير وو نو ټولو له به غسل او کفن ورکړل شي او د مسلمانانو په نيت کولو سره به پرټولو د جنازې لمونځ ادا شي بيا دې ټول د کافرانو په هديره کې ښخ کړای شي او که مسلمانان او کافران په تعداد کې سره برابر وو نو د دوئ هم دا پورته ذکر شوی حکم دی البته د دفن په صورت کې احوط داده چې د دوئ لپاره جلا هديره جوړه شي کمافی شرح التنوير: اختلط موتانا بکفار ولا علامة اعتبر الاکثر فان استوو اغسلوا واختلف فی الصلوة عليهم ومحل دفنهم کدفن ذمية حبلی من مسلم قالوا والاحوط دفنها علی حدة: وقال ابن عابدين الشامی رحمه الله: وقيل يصلی ويقصد المسلمين لانه ان عجز عن التعيين لايعجز عن القصد کمافی البدائع قال فی الحلية فعلی هذا ينبغی ان يصلی عليهم فی الحالة الثانية ايضا ای حالة ما اذا کان الکفار اکثر لانه حيث قصد المسلمين فقط لم يکن مصليا علی الکفار والا لم تجز الصلوة عليهم فی الحالة الاولی ايضا مع ان الاتفاق علی الجواز فينبغی الصلوة عليهم فی الاحوال الثلاث کمالی قالت به الايمة الثلاث وهو اوجه قضاء لحق المسلمين بلا ارتکاب منهی عنه (الدر المختار مع ردالمحتار: ۱/۶۳۵)

(۵) د کوم مړه که له کومې نښې څخه مسلمان والی معلوم نشي نو له کومې علاقې څخه چې دده لاش پيدا شوی دی نو په هغه ځای کې د مسلمانانو اکثريت وي نو له ده سره به د مسلمانانو په شان معامله کيږي او که په هغه ځای کې د غير مسلمانانو اکثريت وي نو له ده سره به د غير مسلمانانو معامله کيږي کمافی شرح التنوير: ولم يدر امسلم ام کافر ولا علامة فان فی دارنا غسل وصلی والالا (حواله بالا)

(۶) که د چا پوره لاش پيدا نه شو صرف لاس يا پښه يا سر يا کوم بل اندام يې پيدا شو نو ده له دې غسل وغيره نه ورکوي بلکه په کومه پاکه ټوټه کې دې ونيچې او دفن دې کړي، همدا شان که يې د جسم متفرقې اجزاوې پيدا شوې او د دوئ مجموعه ترنصف کمه وه نو ددې اندامونو هم همدا حکم دی چې بې له غسل وغيره دې په يوه ټوټه کې ونيچې او دفن دې کړي، همدا شان که د چا د جسم ... برخه بې له سر څخه پيدا شوه نو دهغې هم همدا حکم دی، او که نيمايې برخه له سر سره پيدا شوه نو بيا ... ي غسل او کفن ورکړي او له جنازې کولو څخه وروسته دې ښخ کړي، او که له نيمايې څخه زياته برخه يې بې له سر څخه پيدا شوه نو بيا دې هم غسل او کفن ورکړي او جنازه دې وکړي او دفن دې کړي کمافی شرح التنوير: (وجد رأس آدمی) او احد شقيه (لايغسل ولا يصلی عليه) بل يدفن الا ان يوجد اکثر من نصفه ولو بلا رأس (ردالمحتار: ۱/۶۳۴) وقال ابن نجيم: ولو وجد الاکثر من الميت او النصف مع الراس غسل وصلی عليه (بحر الرائق: ۲/۱۷۴)

ف: ديوچادمسلمان والي دري نښاني دي ختان ،خضاب اوحلق عانه كمافي الشامية :علامة المسلمين اربعة الختان والخضاب ولبس السواد وحلق العانة قلت في زماننا لبس السواد لم يبق علامة للمسلمين (ردالمحتار: ۱/۶۵۳)

(۷)كه ديوه لاش اكثره برخه پيداشوه په كومه چې دجنازي لمونځ اداشوا وبنخه كړای شوه وروسته نوراندامونه پيدا شول نوددي اندامونودجنازي لمونځ نشته بلكه دغسې دي په يوه جامه كې ويېچې اوبنخه دي كړي كمافي الهداية:واذاصلي علي الاكثرلم يصل علي الباقي اذاوجد(هدايه: ۱/۱۵۹)كه په پوندكې دچادبدن كوم اندام پرې شې نودهغه هم غسل اوكفن اودجنازي لمونځ نشته بلكه په كوم ټوكركې دې ويېچې اودفن دي كړي .

دجنازي دوړلوبيان

(۴۳۱)ويؤخذ سريره بقوائمه الأربع (۴۳۲)ويعجل به بلا خبب (۴۳۳)وجلوس قبل وضعها (۴۳۴)ومشي قدامها (۴۳۵)ووضع مقدمها على يمينك ثم مؤخرها ثم مقدمها على يسارك ثم مؤخرها

ترجمه:اوودي نيسې دده كټ له څلوروپښوڅخه ،اوپه تلوارتلوارديويسې مگرمنډي دي نه وهي ،اونه دي كښيني ترجنازي اېښودلوله مخه ،اونه دي ځي وراندي ترجنازي ،اوكښېږدي دي دكټ مخكنۍ راسته پښه پرخپله راسته اوږه باندي بيادشاراسته پښه بيادكټ مخكنۍ چپه پښه پرخپله چپه اوږه باندي اوبيادشاچپه شپه .

تشريح :(۴۳۱)يعني كله چې خلك مرده پركټ اوچتوي نودكټ څلورسره پښي دي ونيسې ولي چې له حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه مروي ده من السنة ان تحمل الجنازة من جوانبها الاربعة (يعني مسنون داده چې جنازه ددي له څلورو طرفونوڅخه اوچته كړای شي)،همدارازپه څلورونفروسره په اوچتولوكې دجنازي اكرام هم دی اودمرده په ځمكه له لويدلوڅخه حفاظت هم دی .

(۴۳۲)بيادي مرده په تلوراسره وړي مگرمنډي دي نه وهي ولي چې له نبی كريم ﷺ څخه چې كله په دي باره كې پوښتنه وشوه نونبی كريم ﷺ وفرمايل مادون الخبب (يعني په تيزي سره يې وړئ مگرمنډه مه وهئ).اوپه تيزی سره دوړلوحكم په دي وجه دی چې كه دامرده نيك وي نوده لره دالله تعالی دربارته زررسول مناسب دي اوكه خداناخواسته بدوي نوده لره له خپلوغاړوڅخه زرلري كول مناسب دي لهذاپه هرصورت كې ده لره تيزوړل مناسب دي ،مگرمنډه دي نه وهي ولي چې په دي كې دمرده تحقيردی .

(۴۳۳)قوله وجلوس قبل وضعها اي بلاجلوس الخ ،يعني كله چې مرده ويسې اوقبرته ورسيږي نودجنازي په ځمكه له اېښودلوڅخه وراندي دي خلك نه كښيني دخلكوكښيناستل مكروه دي ولي چې نبی كريم ﷺ فرمايلي دي چې كوم كس چې دجنازي سره ځي هغه دي له جنازي اېښودلوڅخه وراندي نه كښيني ، همدارازكله په جنازه كې دخلكودكومك ضرورت وي نوپه وخت سره مددكول به ډيرممكن په هغه وخت كې وي چې خلك ولاړوي .

(۴۳۴)قوله ومشى قدامها اى بلامشى قدام الجنازة ،يعني خلک دې له جنازې څخه وړاندې نه ځي﴿ لحديث ابن عازب انه قال امرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم باتباع الجنازة﴾(رسول الله ﷺ موږ ته داتباع جنائز امر وکړ)داتباع اطلاق په وروسته تګ باندې کيږي نه په وړاندې تللو باندې ،همداراز حضرت على ﷺ به له جنازې څخه وروسته تللو او ويې فرمايل چې دجنازې په وروسته تګ کونکيو ته په وړاندې تګ کونکيو دومره فضليت حاصل دی څومره چې فرض لمانځه لره په نفل لمانځه حاصل دی .

ف:بيت که همسايه وي که قريب وي يامرده کوم صالح انسان وي نو دده له جنازې سره ترهديرې پورې تلل له نوافلو څخه افضل دی.(احسن الفتاوى ۴/۲۲۴)

ف:دجنازې دوړلو په وخت کې دې خلک دنيايي خبرې نه کوی اونه دې راسته اوکيڼ لورته ګورې ولې چې په دې سره زړه سختيږي ،بلکه خاموش دې وي اوکه ذکرکوي نوپه کثرت سره دې تسبيح اوتهليل وايي ليکن په سوکه اوازسره دې وايي په لوړ اواز دې نه وايي قال ابن عابدين :وينبغى لمن تبع الجنازة ان يطيل الصمت وفيه عن الظهيرية فان اراد ان يذكر الله تعالى يذكره فى نفسه لقوله تعالى انه لايحب المعتدين اى المجاهرين بالدعاء وعن ابراهيم انه كان يكره ان يقول الرجل وهو يمشى معها استغفروا له غفر الله لكم(ردالمحتار:۱/۱۵۸)

(۴۳۵)اودجنازې له وړونکيو څخه هريوه لره په کارده چې اول راسته طرف ته په ترجيح ورکولو سره دجنازې راسته دسرپښه په خپله راسته اوږه کښيږدي بيادهغې دپای پښه په خپله کيڼه اوږه کښيږدي بيادجنازې دکيڼ طرف مخکنی برخه په خپل کيڼه اوږه کښيږدي بيا وروستنی برخه په خپله کيڼه اوږه کښيږدي ولې چې ددې تفصيل مطابق ابتداءباليمين متحققه کيږي .

(۴۳۶)وَيُحْفَرُ الْقَبْرُ وَيُلْحَدُ(۴۳۷)وَيُدْخَلُ مِنْ قِبَلِ الْقِبْلَةِ(۴۳۸)وَيَقُولُ وَاضِعُهُ بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ(۴۳۹)وَيُوَجَّهُ إلَى الْقِبْلَةِ وَتُحَلُّ الْعُقْدَةُ (۴۴۰)وَيُسَوَّى اللَّبِنُ عَلَيْهِ وَالْقَصَبُ لَا الْآجُرُّ وَالْخَشَبُ

ترجمه :اوقبردې وکيندل شي اولحد دې جوړکړای شي ،اوداخل دې کړای شي دقبله له طرفه ،اوپه قبرايښودونکی دې وايي بسم الله وعلى ملة رسول الله ،اومتوجه دې کړای شي دقبلې لورته اوغوټه دې ورخلاصه کړي ،اوبرابرې دې کړي پرده خامې خښتې يانلان نه پخې خښتې اولرګي .

تشريح :(۴۳۶)بيادقبروکينې اولحد دې جوړکړي ،لحدادادی چې تول قبروکيندې دقبلې لورته دې دنالې په شان ځای جوړکړي اوپه هغه کې دې مړده دفن کړي ،زموږ په نزدقبرکښل اولحد جوړول مسنون دي ﴿ لقوله ﷺ اللحد لنا والشق لغيرنا ﴾(يعنی لحدزموږلپاره دی اودنوروLپاره شق دی)په دې شرط چې ځمکه نرمه نه وي ،که ځمکه داسې نرمه وي چې لحد جوړول ممکن نه وي نو شق جائز دی ،اوشق دادی چې پلن قبروکيندل شي اودده په دننه(يعني منځ) کې نری شيله جوړه کړي اوپه هغه کې مړده دفن کړي .

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدشق مسنون دی ولې چې له اهل مدينه څخه همدامتوارث ده چې هغوئ دمړده لپاره شق جوړوي،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې دمدينې منورې ځمکه نرمه ده هلته لحدجوړول سخت دي په دې وجه اهل مدينه دلحدپه ځای شق اختيارکړی دی.

ف:قبردې دمنځنې قدلرونکی انسان دوسط په اندازه ژوروي اوکه له څخه هم زيات ژورشي نوښه ده ولی چې مقصوددادی چې دنعش بدبوی دباندې نه راووځي اوکوم ځناورده نقصان ونه رسوي كمافى الشامية:(قوله

مقدار نصف قامة الخ) او الی حد الصدر وان زاد مقدار قامة فهو احسن كما في الذخيرة فعلم ان الادنی نصف القامة والاعلی القامة وما بينهما بينهما وهذا حد العمق والمقصود منه المبالغة في منع الرائحة ونبش السباع (ردالمحتار: ۱/۶۵۹)

(۴۳۷) د مړه په قبر کښې د داخلولو طريقه داده چې مړه دې د قبلې له طرف څخه داخل کړي ولې چې قبله محترمه او معظمه ده لهذا له همدې لورې څخه داخلول مستحب دي په دې شرط چې د قبر د نړېدلو خطره نه وي که نه نو د سر يا پښو له لورې دې داخل کړي.

ف: د امام شافعي رحمه الله په نزد دې مړه د قبر د سر يا پای خواته کښېښودل شي بيا دې له د پښو يا سر له طرف کښې کړي او قبر ته دې د ننه کړي ولې چې له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ د سر له لورې قبر ته کښته کړل شو. امام شافعي رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې د نبي کريم ﷺ قبر ته د داخلولو په باره کښې روايات مضطرب دي ولې چې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د روايت په مقابله کښې د ابراهيم التيمي روايت دی چې نبي کريم ﷺ يې قبر ته د قبلې له لورې کښته کړی وو. همدا راز ممکنه ده چې د ځای د تنګی له امله يې نبي کريم ﷺ د سر له طرفه قبر ته داخل کړی وي.

(۴۳۸) مړه قبر ته داخلولو په وخت کښې دې دا دعاء ويل کيږي بسم الله وعلی ملة رسول الله ولې چې حضرت ذوالبجادين رضي الله عنه قبر ته د کښته کولو په وخت کښې نبي کريم ﷺ همدا الفاظ فرمايلي وو. همدا راز له حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې كان النبي ﷺ اذا ادخل الميت القبر قال بسم الله وعلی ملة رسول الله (يعنی نبي کريم ﷺ چې به کله مړه قبر ته داخلوی نو بسم الله وعلی ملة رسول الله به يې فرمايل).

(۴۳۹) په لحد کښې په ايښودلو سره دې مړه د قبلې لورته متوجه کړي يعنی په راسته اړخ په څملولو سره دې د قبلې لورته متوجه کړي ﴿لحديث علي رضي الله عنه انه قال مات رجل من بنی عبد المطلب فقال ﷺ يا علي استقبل به القبلة استقبالا﴾ (يعنی د بنی عبد المطلب څخه يو کس مړ شو نو نبي کريم ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمايل چې دی د قبلې لورته متوجه کړه) بيا په قبر له ايښودلو څخه وروسته دې دده د کفن غوټه خلاصه کړي کومه چې د کفن د خلاصيدلو د خوف له کبله لګافی ته ورکړل شوي وه ولې چې اوس د کفن د منتشر کيدلو خوف نشته.

(۴۴۰) له دې وروسته دې لحد ته خامې خښتې يا بانس ودرووي ولې چې د نبي کريم ﷺ په قبر مبارک يې خامې خښتې لګولې وې، او په بانس ايښودلو کښې په دې وجه څه مضائقه نشته چې دا په زر نه خرابيدلو کښې د خامو خښتو په شان دی، په قبر کښې د پخو خښتو او لرګيانو لګول مکروه دي ولې چې دا د وړو شيانو د استحکام عمارت لپاره وي او قبر د خرابيدو او برباديدلو ځای دی.

(۴۴۱) وَيُسَجَّى قَبْرُهَا لَا قَبْرُهُ (۴۴۲) وَيُهَالُ التُّرَابُ (۴۴۳) وَيُسَنَّمُ الْقَبْرُ وَلَا يُرَبَّعُ وَلَا يُجَصَّصُ (۴۴۴) وَلَا يُخْرَجُ مِنَ الْقَبْرِ (إِلَّا أَنْ تَكُونَ الْأَرْضُ مَغْصُوبَةً)

ترجمه: او پټ دې قبر د ښځې نه د نارينه، او وربانديږدې دې واچوې خاوري، او قبر دې د کوبه شان جوړ کړي او مربع دې نه جوړوي او نه دې په چونه جوړوي، او مړه دې له قبر څخه نه راباسي مګر دا چې ځمکه د غصب وي.

تشريح: (۴۴۱) د ښځې د ښخولو په وخت کښې دې د دې په قبر پرده وکړل شي ولې چې د ښځو حالت مبنی پر ستر دی او د نارينه په قبر دې پرده نه کوي ولې چې حضرت علي رضي الله عنه له دې څخه منع کړې ده که د يو عذر له کبله وو نو جائز دی مثلاً د باران يا ګرمی له کبله.

(۴۴۲)اوس له دنیاڅخه دېټولولپاره دي په مړده باندي خاوري واچوي دکوم لورته چي په دي ایت مبارک کي اشاره ده ﴿ لِيُرِيَهُ كَيْفَ يُوَارِي سَوْأَةَ أَخِيهِ ﴾ .

(۴۴۳)قبر دي مسنم یعنی دکوپه شان جوړکړي اوله ځمکي څخه دي یوه لویشت یاله هغه څخه لږلوړجوړکړي .قبردي مسطح یعنی مربع نه جوړوي ولی چي نبی کریم ﷺ دقبروله مربع جوړولوڅخه منع فرمایلي دیه ،همداراز ابراهیم نخعی رحمه الله فرمایي چي کوم کس چي دنبی کریم ﷺ ،حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه قبرونه لیدلي وو هغه ماته وویل چي ددوئ قبرونه مسنم یعنی دکوپه شان دی ،په قبردي چونه ،سیمنټ وغیره نه لګوي ولی چي دنبی کریم ﷺ ارشاددی ﴿لاتجصصوا القبور ولاتبنوا علیها ولاتقعدوا علیها﴾(یعنی مه په قبرونه چونه لګوئ اوپه قبرونه تعمیرجوړوئ اومه په قبرونو کښېنئ).

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزد قبرڅلورکونجه جوړول مسنون دي ولی چي نبی کریم ﷺ دخپل زوی ابراهیم قبرڅلورکونجه جوړکړی وو ،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چي دابراهیم بن محمد ﷺ قبرپه پیل کي څلورکونجه وو وروسته بیادکوپه شان کړل شوي وو .

ف:نن صباپه ځینو مملکتونوکي دمړده دفن کولولپاره تابوت استعمالیږي ،دتدفین مسنونه طریقه داده چي په خاوروکي تدفین وشي په دي وجه په تابوت کي دمړده تدفین مکروه ګڼل شوی دی که دلرګي وي که دوبري اوکه داورسپیني ،البته فقهاودضرورت په ځای کي په تابوت کي دتدفین اجازت ورکړی دی اوپه دي صورت کي هم ښه طریقه داده چي په تابوت کي دننه له برخي سره چي دمړده بدن نښلي هلته دي خاوري واچول شي یادي ګل ورکړل شي اوراسته اوکیښ لورته دي خامي خښتي کښېښودل شي ....عموما فقهاو دخپلي زماني داحوالوپه لحاظ سره له ضرورت څخه دځمکي زیمداره والی مرادکړی دی لهذاپه داسي ځایونوکي خوپه تابوت کي تدفین جائزدی ،که په کوم ملک کي په قانونی لحاظ سره صرف په تابوت کي دمړده دتدفین اجازه وي نوداهم حاجت متصورکیږي،البته په مسلمانانوفرض ده چي دمناسبو قانونی وسائلو په ذریعه دي په داسي قوانینوکي دتبدیلي کوشش وکړي.(جدیدفقهی مسائل ۱/۱۷۸:

(۴۴۴)له دفن کولوڅخه وروسته دي مړده له قبرڅخه نه راکاږي ولی چي له دي څخه ممانعت شوی دی مګرکه دقبرځمکه دغصب وي نوکه دځمکي مالک راکښل وغواړي نودده دحق له کبله به راکښل کیږي .

ف:په قبرتعمیردزینت لپاره حرام دی اوداستحکام لپاره مکروه دی اوپه قبرونه څارونه غوړول هم مکروه دي کمافي الشامیة:(قوله ولایرفع علیه بناء)ای یحرم لوللزینة ویکره لوللاحکام بعدالدفن ....(تتمة)فی الاحکام عن الحجة تکره الستورعلی القبور(ردالمحتار: ۶۶۲/۱)

ف:پرقبردنښاني لپاره نوم اوتاریخ وفات لیکل جائزدي ،دقران کریم ایت ،شعراودمړده صفتونه لیکل په هرکیف ناجائزدي .(احسن الفتاوی: ۴/۲۰۹)

دحيله اسقاط بيان

ف: زموږ په علاقه کې دحيله اسقاط ډير اهتمام کيږي دحيله اسقاط دمشروع والى تصريح دامت فقهاوکړي ده مګرددي دجوازلپاره يې شرائط هم ليکلي دي له کوموڅخه بغيرچې حيله اسقاط محض يورواج اوبدعت جوړيږي اوداهم يقيني ده چې زموږپه علاقه کې په دي حيله کې دفقهاودبيان کړي شرائطوڅخه نوم اونښه نشته ،اصلاداحيله په هغه صورت کې مشروع ده چې که دمرګ په وخت کې دمسلمان په ذمه دالله تعالى حقوق پاته وي مګردده دميراث ثلث دهغولپاره کفايت نه کوي نوفقهاو داحيله ايجادکړي ده ترڅوددي مسلمان ذمه فارغه شي کنه په مالدارکس باندي واجب ده چې وصيت وکړي چې زماپرذمه فلانى فلانى حق شته دهغه فديه دي ورکړل شي لکه څرنګه چې علامه تقى الدين البرکوى رحمه الله ليکي الواجب عليه ان يوصى من مال للفائتة بقدمااحتمل الثلث ,(جلاء القلوب على هامش شرح شرعة الاسلام :ص٦٧)اوعلامه شامى رحمه الله ليکي :وعليه ان الايصاء واجب ان کان له مال (رسائل ابن عابدين: ١/٢١٩)

اوکه له ده سره مال وي اودى دفديه ورکولووصيت نه کوي بلکه دوراسقاط وصيت کوي نوګنهګاريږي کماقال ابن عابدين فان اوصى باقل وامر بالدور وترک بقية الثلث للورثة اوتبرع به لغيرهم اثم بترک ماوجب عليه (شامى: ٢/٧٣) اوعلامه تقى الدين البرکوى رحمه الله ليکي :واما اذااوصى بالدورواوصى ببقية الثلث فى التبرعات کماهوالعادة فى زماننااولم يوص بهااصلافقداثم بترک ماوجب عليه (جلاء القلوب :ص٦٧)

لهذاکه له چاسره مال نه وو يادومره لږوو چې دهغه ثلث دحقوقولپاره کافى نه وو نواوس حيله اسقاط کولى شي لکه څرنګه چې صاحب مراقى الفلاح ليکي :(وان لم يف مااوصى به)الميت(عماعليه)اولم يکف ثلث ماله اولم يوص بشئ واراداحدالتبرع بقليل لايکفى فحيلته لابراء ذمة الميت عن جميع ماعليه ان (يدفع ذالک المقدار)اليسير بقدر تقديره بشئ من صيام اوصلوة اونحوه ويعطيه (للفقير)بقصداسقاط مايريدعن عن الميت (فيسقط عن الميت بقدره ثم)بعدقبضه (يهبه الفقير للولى)للأجنبى (ويقبضه)لتتم الهبة(مراقى الفلاح شرح نورالايضاح :ص٣٥٧)

اوحيله اسقاط کول صحيح دي که ميت وصيت کړى وي اوکه يې وارث له خپله طرفه کوي لکه څرنګه چې علامه شامى رحمه الله ليکي :اولم يوص بشئ واراد الولى التبرع الخ واشاربالتبرع الى ان ذالک ليس بواجب على الولى ونص عليه فى تبيين المحارم فقال لايجب على الولى فعل الدوران وان اوصى به الميت لانها وصية بالتبرع (شامى: ٢/٧٣)

مګردوراسقاط مطلق نه ده بلکه ددي مشروعيت مشروط بالشرائط ده لکه څرنګه چې نفل لمونځ کول مشروع دي مګر مطلق نه ده بلکه مشروط بالشرائط دى چې لمونځ کونکى به اودس لري ،اوبدن ،جامه اومکان به پاک وي وغيره وغيره نو که چيرته داشرائط نه وو نوبيا په لمونځ کولوکې ثواب نشته بلکه بې له شرائطولمونځ کول ګناه ده ،همداشان دوراسقاط دضرورت په وخت کې مشروع ده مګرمشروط بالشرائط دى که شرائط موجودوو نومفيده ده که نه نو ګناه ده ددوراسقاط شرائط په لاندي ډول سره دي.

نمبر١. په کوم مال سره چې دوراسقاط کيږي هغه به مشترک بين الحاضرين والغائبين نه وي اوکه مشترک وو نوبيا په دي مال سره دوراسقاط کول جائز نه دي ولى چې نبى کريم ﷺ فرمايي لايحل مال امرء الابطيب نفس منه ،اودغائب طيب نفس معلوم نه دى ،اوعلامه شامى رحمه الله ليکي :ويجب الاحتراز ايضاعن جميع الصرة واستيهابهاواستقراضهامن غيرمالکهااوم احدالشريکين بدون اذن الاخر(رسائل ابن عابدين: ١/٢٢٥)

نمبر۲. داما ل که دمرده میراث وو نومشترک بین الصغار والکبار به نوي که نه نو په دي مال سره دورکول جائز نه دی ولی چې دنابالغ هبه صحیح نه ده یعنی دنابالغ په هبه کولو سره دده ملک نه ختمیږي اوسره له قیام ملک داما ل فقیرته ورکول جائزنه دی قال الله تعالی (ان الذین یاکلون اموال الیتمی ظلما انما یاکلون فی بطونهم نارا وسیصلون سعیرا)

نمبر۳. په دوره اسقاط کې به نابالغ اومجنون نه وي ولې چې دوئ ته داسقاط دمال په ورکولو سره دوئ دهغه مالکین جوړیږي اوله دوئ څخه بیاپیرته اخیستل جائزنه دي ولی چې ددوئ هبه صحیح نه ده لکه څرنګه چې علامه شامی ﷫ لیکي :ویجب الاحتراز ایضا عن احضار قاصر او معتوه اورقیق اومدبر لانه اذااعطی الوصی لاحدهم ملکه وهبته غیر صحیحة فلاتعطی الصرة لیدقاصر اوغیر عاقل اومملوک (رسائل ابن عابدین: ۱/۲۲۵)

نمبر۴. دوره اسقاط دي په فقیرانو وکړي په اغنیاوسره جائز نه ده لکه څرنګه چې علامه برکوی ﷫ لیکي :ثم ههنا امر غامض یجب التنبیه له وهو ان المتصدین لتنفیذ هذه الوصایا فی زماننا هذا من الأئمة والمؤذنین وامثالهم قدغلب علیهم الجهل وحب الدنیا وضعف خوف الآخرة فلایفعلونه علی وجه المشروع اذغرضهم لیس الااخذ المال بای طریق کان مثلالایمیزون الفقیر من الغنی فی الدور (جلاء القلوب علی هامش شرح شرعة الاسلام :ص۷۲)اوبیوه صفحه وروسته لیکي الدورمع الغنی لایجوز (جلاء القلوب: ص۷۳)

اوعلامه شامی ﷫ لیکي :یجمع الوارث عشرة رجال لیس فیهم غنی لقوله تعالی انما الصدقات للفقراء والمساکین (منحة الخالق علی هامش بحر الرائق: ۲/۹۰)وایضاقال :والمنصوص علیه فی المذهب وعلیه العمل ان یجمع الوارث عشرة رجال لیس فیهم غنی ولاعبد ولاصبی ومجنون (رسائل ابن عابدین: ۱/۲۱۱)

علامه سید محمد یوسف بنوری نور الله مرقده داسې لیکي :ومن یاخذ (من الصدقات)مالیس له کمن یمنع ماعلیه لأن کل واحد منهما یتعدی حدود الله فهما شریکان فی الاثم (معارف السنن: ۵/۲۵۶)صاحب جوهرة النیرة لیکي :وکمایحرم علیه (علی الغنی) القبول کذالک یحرم علی المتصدق الأعطاء اذاکان عالما بحاله یقینا اوباکثر رایه (جوهرة النیرة: ۲/۱۶۶)

نمبر۵. په کوم مال سره چې دوره اسقاط کوي هغه به مستعارنه وي ولی چې مال مستعار دمستعیر ملک نه جوړیږي هغه مال اوس هم دمعیرپه ملک کې دی اودبل چاپه ملک کې تصرف کول جائزنه دی ولی چې نبی کریم ﷺ فرمایي لایحل مال امرإ الابطیب نفس منه.

نمبر۶. فقیرته دي داوایې چې داما ل اوس ستاپه ملک کې دی ته په دي کې هرقسم تصرف کولی شې البته په مرده دترحم لپاره ته داما ل بیرته موږته هبه کړه موږبه یې بیاتاته درکړوترڅو دمیت ذمه فارغه شې اوکه یې فقیرته سرنه کوورخلاص نوداد ورصحیح نه دی لکه څرنګه چې علامه تقی الدین البرکوی ﷫ لیکي :ثم یطلب مسکین صالح فیقال له انا نرید ان نعطیک مأة درهم لاسقاط الصلوة ولکن نسالک ان تهب لنا کمانسالک ان تهب لناکلما قبضت وصارت ملکک کسائر املاکک حتی یتم الدور ثم یبقی فی یدک کملا بلانقصان لتکون هبة ذالک المسکین علی علم ورضی فتصح ثم یفعل ماقیل له (جلاء القلوب علی هامش شرح شرعة الاسلام :ص۷۰)اوعلامه ابن عابدین شامی ﷫ لیکي :ویقبلها الفقیر ویقبضها ویعلم انها صارت ملکاله (رسائل ابن عابدین: ۱/۲۱۲)

نمبر۷. فقیرته دپیسو دورکولو په وخت کې به یې صرف دحیلې نیت نه وي بلکه دفقیردمالک جوړولو عزم به وي لکه څرنګه چې علامه ابن عابدین شامی ﷫ لیکي :ویجب الاحتراز من ان یلاحظ الوصی عندالدفع الصرة للفقیر الهزل او الحیلة بل یجب ان یدفعها عازما علی تملیکها منه حقیقة لاتحیلا (رسائل ابن عابدین: ۱/۲۲۵)

نمبر۸ فقيرته ديسوله وركولوڅخه وروسته كه فقيرله واپس كولوڅخه انكاروكړنوده لره داجائزده اوله ده څخه جبراواپس اخيستل جائزنه دي لكه څرنګه چې علامه شامی رحمه الله ليكي : ان الفقير اذا ابى عن هبتها الى الوصى كان له ذالك ولا يجبر على الهبة (حواله بالا)

نمبر۹. فقيرته دي دومره مال نه وركوي په كوم چې هغه غنى شي كه نه نو دامكروه ده لكه څرنګه چې علامه تقى الدين البركوى رحمه الله ليكي : الا انه لا يعطى هذه الا لفقير مديون او ذى عيال فان لم يوجد فللفقيرين حذرا من الكراهة قياسا على الزكاة (جلاء القلوب: ص ۴۷)

نمبر۱۰. په حيله اسقاط به اصرارنه كوي يعنى دسنتو، واجبويافرضوپه شان به يې لازم نه ګڼي په دي وجه چې دوره اسقاط چې كله په پورته شرائطو برابره وي بياهم حيله ده اودحيلې حيثيت زيات ترزيات اباحت دى اودكوم مباح كارپه پرېښودلوسره ملامتيانشته اوكه كوم څوک تارک ملامتوي نودانبه ده چې دى ددي دوجوب اعتقادلري اودكوم مباح بلكه مستحب په باره كې دسنت ياوجوب اعتقادلرل جائزنه دي لكه څرنګه چې علامه سيدمحمديوسف بنورى رحمه الله ليكي :ثم فى حديث ابن مسعود رضي الله عنه دليل على ان المندوبات قد تنقلب مكروهات اذا رفعت عن رتبتها لان التيامن مستحب فى كل شئ ان من امور العبادة لكن لما خشى ابن مسعود رضي الله عنه ان يعتقدوا وجوبه اشار الى كراهته قاله ابن المنير كما فى الفتح ومثله ذكره الطيبى وغيره من علماء الشافعية والحنفية (معارف السنن: ۳/۱۲۶) اوملاعلى قارى رحمه الله ليكي :وفيه من اصر على امر مندوب وجعله عزما ولم يعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشيطان من الاضلال فكيف من اصر على بدعة او منكر (مرقات شرح مشكوة: ۳/۳۱)

اوعلامه شامى رحمه الله داسې ليكي :وسجدة الشكر مستحبة به يفتى لكنها تكره بعد الصلوة لأن الجهلة يعتقدونها سنة او واجبة وكل مباح يؤدى اليه فمكروه، قال ابن عابدين الشامى: الظاهر انها تحريمية لانه يدخل فى الدين ماليس فيه (شامى: ۲/۱۲۰)

دالس شروطونه ددوراسقاط لپاره دي نوچيرته چې داشرائط وي نو دوراسقاط مشروع دى اوكه له دي شرائطوڅخه يوياټول نه وو نودوراسقاط ممنوع اوناجائزدى ،مګرښكاره خبره ده چې اوس وخت په مروج دوراسقاط كې تقريباً ټول شرائط مفقوددي لهذا اويل صحيح دي چې مروج دوراسقاط مشروع نه دى بلكه دادمتعددوګناهونه مجموعه ده له همدي امله دوخت جيدوعلماپه دي حيله سخت ردكوي دنمونې په ډول دحضرت قطب عالم مولانارشيداحمدګنګوهى رحمه الله فتوى ملاحظه كړئ .

فرمايي :حيله اسقاط دمفلس لپاره علماوضع كړي وه اوس داحيله دملايانولپاره ديوڅوپيسو دحصول حيله مقرره شوي ده حق تعالى په نيت خبردى هلته حيله كارنه كوي دمفلس لپاره په شرط صحت دنيت دورڅه عجبه ده چې مفيده دي وي كه نه نو لغواوحيله تحصيل دنيادنيه ده فقط والله اعلم رشيداحمدعفى عنه فتوى رشيديه .

زموږپه خواكې يومولوى صاحب دحيله اسقاط پراهميت باندي مضمون ليكلى دى دنمونې په ډول دي مضمون څخه يواعتراض اودهغه ځواب نقل كوم له كوم څخه چې به ددي مضمون حقيقت واضح شي، ليكي :فان قلت اذا كانت دراهم الاسقاط كثيرة تبلغ النصاب اوتزيد عليه فلما قبضها الفقير صار غنيا فتجب عليه حجة الاسلام ان لم يحج وتجب عليه صدقة الفطر والاضحية ان وجدوقت هذه الاشياء وايضا تجب عليه نفقة الاقارب المحاويج ذوى الرحم المحرمين عليه وغير ذالک مما يتعلق بالغناء؟ قلت: هذه الصور نادرة من اتفاق كثرة الدراهم ووجدان الوقت المذكور وان اتفقت فالاحوط ان تفرق الدراهم الكثيرة الى حصص تكون كل حصة ناقصة عن النصاب وتعطى الحصص الى انفار ثلثة مثلا فتدار على المحاويج والفقراء هكذا ينبغى ان يفهم

المقام ليقع الخلاص عن طعن الفنجفيرين الطاعنين بانواع من الحيل والشبه الباطلة ليدحضوا الحق والله تعالى متم نوره ولو كره هؤلاء الفاسقون ولهذا التفريق نظير في الزكاة من ان اعطاء قدر النصاب في الزكوة للفقير مكروه قال في الدر المختار وكره اعطاء فقير نصابا او اكثر اه (الدر المختار على هامش رد المحتار: ٢/٦٨ مطبع بيروت)

په مذکوره عبارت کې مولوی صاحب يو اعتراض نقل کړی دی چې په دوراسقاط کې چې کوم مال فقيرته ورکول کيږي که هغه دومره وو چې په هغه سره حج اداء کيدای شواى اوموقع هم دحج وه نوپه تولو فقيرانو حج فرض کيږي اودعيدينو موقع وه نوصدقه فطر او اضحيه واجبيږي نوداخويې فقيران په يوه مشکل کې مبتلاء کړل؟مولوی صاحب ځواب ورکوي چې داصورتونه نادردي اوکه بالفرض داسې صورت پيښ شونوپيسې دي تقسيم کړي اودومره دي لږکړي په څومره چې فقيرغنی نه ګرځي په دي دول له دي مشکل څخه خلاصيدای شي.

مګردمولوی صاحب داځواب مناسب نه دی ولې چې اول خوداصورتونه نادرنه دي ولې چې هرکال په دي مواقعوکې يقينامسلمان مرکيږي اوپرده دمولوی صاحب په شان دخلګودفتوی له کبله دوراسقاط کيږي نوکوم چې هرکال پيښيږي هغه څرنګه نادردی؟دوهمه خبره داده چې کله چې داصورتونه پيښ شوی دي نودبې چاره مولوی صاحب په تجويز باندي چاعمل کړی دی؟لهذاداصورتونه يقيناپيښيږي اوبې چاره عام خلګ ديوي حيلې له کبله دترک فرائضو مرتکب ګرځي. والله اعلم بالصواب.

دسرخاکې بيان

ف: زموږپه خواکې داهم رواج دی چې له مرده سره څه خورماوي وغيره هديري ته وړي له تدفين څخه وروسته داخورماوي تدفين ته په راغليو خلګوتقسيموي دي په عرف کې سرخاکې ويل کيږي عام خلګ دادومره لازمي ګڼي ګوياد حق اوباطل معيارهمدادی کوم خلګ چې له دي څخه انکارکوي هغوته ډيربدرواېې حال داچې په شريعت کې ددي هيڅ اصل نشته حضرت قطب علام مولانارشيداحمد ګنګوهي رحمه الله داديهوديانو اوهندوانو عادت بللی دی .لکه چې فرمايي له مرده سره توشه وړل دا ديهودواوهندوانوکفاروعادت دی ،من تشبه بقوم فهو منهم نوکه څوک دکافرکوم رواج خپلوي نوهغه به له کفاروشمارل کيږي له مرده سره توشه وړل هيڅ کله په قرون ثلاثه کې ثابت نه دي بلکه دادکفارو فعل دی نوداعمل کول بدعت اوګناه ده بالکل صحيح نه ده نبی کريم ﷺ به په کوم کې چې لږله کفاروسره مشابهت راتلوهغه به يې منع کاوه لکه چې احاديث له دي اموروډک دي نودافعل بايدمردوداوګناه وګڼل شي اوترک کول يې واجب دی .فقط والله اعلم (فتاوی رشيديه :ص۱۴۴)

همداراز خلګ ددي عمل داسې التزام کوي ګوياداتجهيز اوتکفين له فرائضو څخه دی حال داچې په مندوب امراصرار کول هم قبيح دي داخولاڅه چې په يو منکرامروي لکه څرنګه چې ملاعلی قاری رحمه الله ليکي رفيه من اصرعلى امرمندوب وجعله عزماولم يعمل بالرخصة فقداصاب من الشيطان من الاضلال فكيف من اصرعلى بدعة اومنكر.(مرقات شرح مشكوة: ۳/۳۱)

ف: په ځينو علاقو کې داهم رواج ده چې دمړده په دريمه ورځ دمساجدو امامان ،طالبان او عام ديندار خلک راټولوي دختم قران کولولپاره دايصال ثواب ،په دي ورځ عام دعوت (ميلمستيا)هم کوي اوامامانو اوطالبانوته څخه پيسې هم ورکوي، دافعل دځووجوه له کبله مکروه اوبدعت دی ولی چې په خيرالقرون کې ددي هيڅ ثبوت نشته .خلک ددي داسې اهتمام کوي چې په نه کونکيوباندي طعن اوتشنيع کوي حال داچې فقهاو دامکروه ګڼلی دی علامه شامی رحمه الله ليکي ،ويكره اتخاذ الطعام فی اليوم الاول والثالث وبعدالاسبوع ونقل الطعام الى القبرفی المواسم واتخاذ الدعوة لقراة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم اولقرأة سورة الانعام اوالاخلاص والحاصل ان اتخاذ الطعام عندقرأة القرآن لاجل الأكل يكره (ردالمحتار:۱/۶۶۴) كذافی الطحطاوی على مراقی الفلاح ص ۵۱۰، وكشف الاستار على الدرالمختار:۱/۱۲۶)

اوعلامة الهندمولاناعبدالحی لکهنوی رحمه الله ليکي:وشيخ عبدالحق محدث دهلوی درشرح سفر السعادت ميفرمايند . وعادت نبودکه برائ ميت درغيروقت نماز جمع شودوقرآن خوانندوختمات خوانند نه برسرګورونه غيران واين مجموع بدعت است ومکروه .(مجموعة الفتاوی على هامش خلاصة الفتاوی:۱/۱۹۵)

همداراز دقران دويلوپه موقع کې دعوت ياشيريني بندوبست کول ياپيسې ورکول دالمعروف کالمشروط دقاعدي په بناء دويونکولپاره اجرت دی اودقران مجيددتلاوت کولواجرت اخيستونکی اوورکونکی ودواړه ګنهګاردي نوپردي به دثواب څرنګه اميدکيدای شي ؟اوکله چې تلاوت کونکی ته پخپله ثواب نه ورکول کيږي نوهغه مړده ته څرنګه ايصال ثواب کولی شي .ځينې حضرات ددي مختلف تاويلات کوي مثلاوايي چې صاب دااجرت نه دی بلکه دمړده قربيان خودالله جل جلاله لپاره خيرات کوي اوراتلونکی يې دالله جل جلاله لپاره تلاوت کوي مګرددوئ داتاويلات بې ځايه دي ،علامه شامی رحمه الله ليکي :ولولاالاجرة ماقرأاحدفی هذاالزمان بل جعلواالقران العظيم مكسباووسيلة الى جمع الدنيا،اناالله وانااليه راجعون (وبعداسطر)لامعنى لهذه الوصية ولصلة القارى بقرآته لان هذابمنزلة الاجرة والاجارة فی ذالك باطلة وهی بدعة ولم يفعلهااحدمن الخلفاء ...ولامعنى ايضالصلة القارى لان ذالك يشبه استجار على قرأة القرآن وذالك باطل ولم يفعل ذالك احدمن الخلفاء (ردالمحتار:۵/۳۹)
وقال صاحب تنقيح الحامديه :اماالوصية بذالك فلامعنى لهاولامعنى ايضالصلة القارى لان ذالك يشبه استجار على قرأة القران وذالك باطل ولم يفعل احدمن الخلفاء ورأيت التصريح ببطلان الوصية بذالك فی عدة كتب (تنقيح الحامدية:۲/۱۳۸)

دايصال ثواب لپاره صحيح طريقه داده چې هرکس دي په ځانګړي توګه سره چې کوم نيک عمل دخپل ځان لپاره کوي مثلانفل کوي تسبيحات کوي روژي نيسي ياحج وغيره کوي په هغه کې دي صرف دانيت وکړي چې ددي ثواب دي فلانکی مړده ته ورسيږي نوکوم ثواب چې تاته رسيدوهغه به دي مړده ته ورسيږي اوتاته به هم ددي ثواب ورسيږي. اودمالی صدقاتودثواب رسولوطريقه داده چې څه پيسې دخيرپه کوم کارکې مصرف کړي ياېې کوم فقيرته ورکړي اوپه هغه کې دانيت وکړي چې ددي ثواب دي فلانکی مړده ته ورسيږي نوبس ددي ثواب هغه ته رسيږي .

ف:په هفته کې يوه ورځ هديري ته تلل په کاردي .دپنجشنبې ،جمعې ،هفتې اودوشنبې ورځې افضلې دي اوچې هديري ته داخل شي داسې سلام دي کوي السلام عليكم دارقوم مؤمنين وانا ان شاء الله بكم لاحقون ونسئل الله لنا ولكم العافية .بيادي دمړده دپښولوطرفه دمخ لورته ودريږي اودعاء دي وکړي اوکه يې کښېنتل غوښتل نوپه

ژوندانه له مړه سره دتعلق مطابق دي نژدي يالري كښيني خومره چې ورته اسانه وو تلاوت دي وكړي بالخصوص دسورة بقرة له اول څخه ترمفلحون پوري ،اية الكرسي،امن الرسول ،سورة يسين ، سورة ملك تكاثراوسورة اخلاص دولس يااوه يادري ځله ولولي اوايصال ثواب دي وكړي. (احسن الفتاوى :۴/۲۲۲)

بَابُ الشَّهِيْدِ

دا باب دشهيد داحكامو په بيان كې دى

شهيدفعيل دمفعول په معنى دى شهيدته شهيد په دي وجه ويل كيږي چې فرښتې دتكريم لپاره دده مرګ ته حاضريږي ،ياده ته شهيد په دي وجه ويل كيږي چې شهيد مشهودله بالجنة بالنص دى يعنى په نص كې دده دجنتي والي شاهدى وركړل شوي ده ويا شهيد فعيل دشاهد په معنى يعنى حاضرسره ده ولى چې شهيدهم ژوندى اودالله تعالى په حضوركې حاضراوموجودوي دشهيداحكام يې دمخصوص فضليت له كبله په مستقل باب كې ذكر كړل نو دا دتخصيص بعدالتعميم له قبيلې څخه دى.

(م:)هو من قتله أهل الحرب و البغي و قطاع الطريق أو وجد في المعركة و به أثر أو قتله مسلم ظلما و لم تجب بقتله دية (۴۴۶)فيكفن و يصلى عليه بلا غسل و يدفن بدمه و ثيابه (۴۴۷)إلا ما ليس من الكفن و يزاد و ينقص

ترجمه:شهيدهغه دى كوم چې حربى كافرانو ،باغيانو ياغلوقتل كړى وي ياد جنګ په ميدان كې پيدا شي اوپرده اثروي يادى قتل كړى مسلمان په ظلم سره اونه وي واجب شوى دده له كبله ديت ،نو ده ته به كفن وركول كيږي اولمونځ به وركول كيږي بې له غسله او دي دفن كړاى شي له وينواوجامو سره ، مګرهغه جامې چې دكفن له قبيلې څخه نه وي بزياتى دكړاى شي اوكمې دي كړاى شي .

تشريح:(۴۴۵)مصنف رحمه الله په دي عبارت كې دشهيد اصطلاحى تعريف بيان كړى دى چې شهيدهغه دى كوم چې كافرانو ياباغيانو ياغلومړكړى وي ياپه ميدان جنګ كې نعش پيدا شي اوپه هغه دقتل اثروي ياده ئې كوم مسلمان ظلماً قتل كړي اوددي په عوض كې ديت نه وي واجب شوى بلكه قصاص واجب شوى وي .

ف:دمصنف رحمه الله دقول ولم تجب بقتله دية مطلب دادى چې ابتداء دده پر قاتل قصاص واجب وي مال واجب نه وي نوپه دي سره احتراز راغى له قتل خطاء څخه ولى چې په قتل خطاء كې پر قاتل قصاص نه بلكه مال واجبيږي لهذا دقتل خطاء مقتول دنيوي شهيدنه دى.

ف:شهيدپر دوه قسمه دى :نمبر۱.هغه شهيدكوم چې ددنيا او اخرت دواړوپه اعتبارسره شهيدوي يعنى په دنيا كې غسل نه وركول كيږى اوپه اخرت ده لره اجرعظيم وركول كيږي .نمبر۲.هغه شهيدكوم چې صرف په اخروى اعتبارسره شهيدوي يعنى په دنياكې دعامومړوګانو حكم لري مګرپه اخرت كې ده ته هم ډيراجروركول كيږي .دلته مقصود دالبيان قسم اول دى مصنف رحمه الله هم داول قسم تعريف كړى دى.

ف:كه له ريل ګاډي يا موټر څخه ولويږي اومړشي ياپه دوړ كې مړشي ياله يوشى سره ټكروكړي نوداشهادت صغرى دى دشهدا او دنيوى احكام پردوئ نه جاري كيږي ليكن په اخرت فى الجملة په شهداوكې حسابل كيږي .(احسن الفتاوى :۴/۲۵۴)

ف: نن صبا په لويو لويو ښارونو او غونډو کې دماکې کيږي په کوموکې چې بې شماره بې ګناه مسلمانان مړه کيږي داسې مقتولين په دنيوي او اخروي دواړو اعتبارونو سره شهيد ګڼل کيږي لهذا دوئ ته به غسل نه ورکول کيږي. (حقانية: ۳/۴۷۴)

(۴۴۶) يعني شهيدته به کفن ورکول کيږي ولی چې کفن دبنوادم دمړه ګانو سنت دی او دشهيد دجنازي لمونځ به اداء کيږي ﴿لحديث عقبة بن عامر ﷺ ان رسول الله ﷺ خرج يوما فصلى على أهل أحد صلاته على الميت ثم انصرف إلى المنبر فقال اني فرط لكم وانا شهيد عليكم﴾ (يعني نبی کريم ﷺ يوه ورځ له مدينې منورې څخه دباندې ووتی بيايې داحد په شهيدانو دجنازي لمونځ اداء کړ بيا دمنبر لورته راغی او ويې فرمايل زماستاسې پيش خيمه يم او پرتاسې شاهديم) مګرشهيدته بالاتفاق غسل نه ورکول کيږي ولی چې شهيد مذکور داحد د شهيدانو په حکم کې دی او داحد د شهيدانو په باره کې نبی کريم ﷺ فرمايلي وو ﴿زملوهم بكلومهم ودمائهم ولا تغسلوهم﴾ (يعني دوئ ونغاړئ ددوئ له زخمونو او وينوسره او دوئ ته غسل مه ورکوئ) لهذا مذکور شهيدته به هم غسل نه ورکول کيږي.

ف: دامام شافعي رحمه الله په نزد دشهيد دجنازي لمونځ هم نشته ولی چې دجنازي لمونځ دعاء ده او شهيد له ګناهونو څخه پاک دی په دي وجه ددعاء ضرورت نشته. احناف ځواب ورکوي چې له ګناه څخه پاک هم له دعاء څخه مستغنی نه دی لکه چې پيغمبر ﷺ له دعاء څخه مستغنی نه دی.

(۴۴۷) يعني شهيد به دده له وينو او جامو سره دفن کيږي له ده څخه به دده وينې نه پرېمنځل کيږي او نه به له ده څخه دده جامې ويستل کيږي لماروينا. ليکن کوم شيان چې دکفن له جنس څخه نه دي هغه به ورڅخه ويستل کيږي نوله شهيد څخه به پوستين. موزي. کوټ. واسکټ او اسلحه لري کيږي ﴿لحديث ابن عباس ﷺ قال امر رسول الله ﷺ بقتلى احدان ينزع عنهم الحديد والجلود﴾ (يعني نبی کريم ﷺ داحد دشهيدانو په باره کې وفرمايل چې له دوئ څخه اوسپينې او دپوستکې شيان لري کړي) او دشهيد پربدن که دکفن له عدد مسنون څخه کمې جامې وي نوپه هغه کې دي اضافه وکړل شي او عدد مسنون دي پوره کړای شي او که له عدد مسنون څخه زياتې جامې وي نو کمې دي کړي او عدد مسنون دي پرېږدي.

(۴۴۸) ويغسل إن قتل جنبا او صبيا (۴۴۹) او ارتث بأن أكل او شرب او نام او تداوى او مضى عليه وقت صلاة وهو يعقل او نقل من المعركة او أوصى (۴۵۰) أو قتل في المصر ولم يعلم أنه قتل بحديدة ظلما (۴۵۱) او قتل بحد او قود (۴۵۲) لا لبغي وقطع طريق

توجمه: او غسل دي ورکړل شي که مړ کړای شو دجنابت په حال کې يا د کوچنی والی په حال کې. يا ده څه نفعه حاصله کړه په دي شان چې خوراک يې وکړ يايې څښل وکړل يايې دوا وکړه ياتېر شو دلمانځه وخت په داسې حال کې چې دی په هوش کې وو يا منتقل کړل شو دجنګ له ميدان څخه ړوندی يا ده وصيت وکړ. يا قتل کړل شو په ښار کې او دانه وه معلومه چې دی قتل کړل شوی دی په توره سره ظلما. يا قتل کړل شوی وو په حد يا قصاص کې. نه دا چې دبغاوت يالارشکونی په سبب سره.

تشريح: (۴۴۸) يعني که جنب مسلمان (ياله حائضې ياله نفاسې څخه يو) شهيد شونو دصاحبينو رحمهما الله په نزد دوئ ته هم غسل نه ورکول کيږي ولی چې دنبی کريم ﷺ قول ﴿ زملوهم بكلومهم ودمائهم ولا تغسلوهم ﴾ (يعني دوئ ونغاړئ ددوئ له زخمونو او وينوسره او دوئ ته غسل مه ورکوئ) مطلق دی ددي هيڅ

تفصيل نشته چې شهيد به جنب نه وي يا به حائضه نه وي ،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد به جنبي ته غسل ورکول کيږي ولی چې دامام صاحب رحمه الله په نزد د سقوط غسل لپاره دشهيد پاک والی او مکلف والی شرط دی ولی چې حضرت حنظله بن ابی عامر رضي الله عنه دجنابت په حال کې شهيد شونو فرشتوده ته غسل ورکړنبی کريم ﷺ دده دکورله والو څخه په دې باره کې پوښتنه وکړه نوهغوئ وويل چې هغه خود جنابت په حال کې له کورڅخه وتلی وو ،همداراز په دې وجه هم چې شهادت خوله هغه نجاست څخه مانع دی کوم چې دمرګ له وجې دمرده په بدن کې حلول کوي ليکن که له وړاندې څخه دجنابت وغيره له وجې غسل واجب وي نوهغه نه ختموي ،همداوجه ده چې که دشهيدپه جامو که له مخکې څخه نجاست لګيدلی وو نودهغه پريمنځل ضروري دی ولی چې شهادت هغه لره رافع نه دی ليکن دده دبدن وينه پريمنځل ضروري نه دی لهذاجنبي وغيره ته به غسل ورکول کيږي .

ف:دامام صاحب قول راجح دی : کماقال الشيخ عبدالحکيم الشاه ولی کوټی(قوله واذااستشهدالجنب غسل)وهذاهوظاهر الرواية عن الامام ابی حنيفة رحمه الله وهوالماخوذ وعليه الفتوی واختاره اصحاب المتون ومشی عليه في الکافي والتبيين ونورالايضاح وشرنبلالية وبحرالرائق(هامش الهداية:١٦٦/١)

همداشان که کوچنی شهيد شونو هم دصاحبينوپه نزدغسل نه ورکول کيږي ،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدغسل ورکول کيږي ،دصاحبينودليل دادی چې دشهيدغسل له دې وجې ساقط دی ترڅوده دمظلوميت اثرباقي پاته شي نوشهيدلره غسل نه ورکول ده اکرام له مخې دی اودکوچنی مظلوميت زيات دی لهذاکوچنی ددې اکرام ډيرمستحق دی ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادی چې داحددشهيدانو په حق کې توره له غسل څخه کافي شوه ولی چې توره ګناهونه پاکوي اوپه کوچنی څه ګناه نشته چې توره هغه پاکه کړي نوکوچنی داحد دشهيدانوپه معنی نه دی لهذادکوچنی غسل هم ناساقطيږي ،په دې مسئله کې هم دامام صاحب قول راجح دی .

(۴۴۹)قوله اوارتث بان اکل اوشرب الخ ای يغسل من ارتث بان اکل اوشرب الخ ،يعنی همداشان هغه مقتول ته هم غسل ورکول کيږي دکوپه مره کيدلوکې چې وخت ولګيږي ،دارتثاث معنی ده زوړوالی نومقتول فی سبيل الله که له زخمي کيدلوڅخه وروسته اوله مره کيدلوڅخه وړاندې دړوند څخه څه نفع حاصله کړه نوويل کيږي چې داشهيدزوړشواوځرنګه چې دمنافع ړوندد حاصلولوله کبله دظلم اثرهم کم شوله دې وجې داداحدشهيدانوپه حکم کې پاته نشولهذادې شهيدته به غسل ورکول کيږي ،همداشان حضرت عمر رضي الله عنه په زخمي حالت کې کورته راوړل شواوتردوو ورځوپوري ژوندی وو اوبيايې انتقا ل وکړله دې وجې ده ته غسل ورکول شوپه داسې حال کې چې حضرت عثمان رضي الله عنه له ژوند څخه دڅه فائدې داخيستلوموقع په لاس ورنه غله له دې وجې ده ته غسل ورنه کړل شو ،دشهادت حکم ختمونکی ارتثاث دادی چې څه وخوري يا څه وڅښي يا ويده شي يا دده علاج معالجه وشي ياهغه تردومره وخت پوري ژوندی پاته شي چې پرده دهوش په حالت کې ديوه لمانځه وخت تيرشي ياله ميدان جنګ څخه ژوندی نقل کړای شي ياهغه څه وصيت وکړي نوپه دې ټولو صورتونو کې ځرنګه چې ده له ژوند څخه څه نفع حاصله کړه له دې وجې دی داحددشهيدانوپه معنی کې پاتې نشولهذاده ته به غسل ورکول کيږي .

ف: البته که داسې شخص داخرت داموروپه باره کې څه وصیت وکړنو دامام محمد رحمه الله په نزد به دي کس ته غسل نه ورکول کیږي او همدا قول مفتی به هم دی لما قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وان اوصی بامور الاخرة لایصیر مرتدا عند محمد وهو الاصح لانه من احکام الاموات. (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۱/۶۷۲)

(۴۵۰) قوله اوقتل فی المصر الخ ای ویغسل ان قتل فی المصر، یعنی همداشان که کوم مقتول په مصر کې مړکړلی شوی وو مګر دامعلومه نه وي چې دی په اسلحه سره ظلما وژل شوی دی نوده ته به هم غسل ورکول کیږي ولی چې دده دقتل له وجې دیت واجبیږي په کوم سره چې دظلم اثر کمیږي لهذا داداحد دشهیدانو په معنی کې نه دی.

(۴۵۱) قوله اوقتل بحد اوقود ای ویغسل ان قتل بحد اوقود، یعنی که کوم کس په حد یا قصاص کې قتل شونوده ته به غسل هم ورکول کیږي اوپرده به دجنازي لمونځ هم اداء کیږي ولی چې پرده حد او قصاص واجب وو دي حق واجب داداء کولو لپاره ده خپله روح تسلیم کړه په داسې حال کې چې داحد شهیدانو صرف دالله جل جلاله دخوشحالی لپاره خپله روح تسلیم کړي وه لهذا داحد دشهیدانو په حکم کې نه دی له دي وجې به ده ته هم غسل ورکول کیږي.

(۴۵۲) قوله لالبغی ای لایغسل من قتل لبغی، یعنی که کوم باغی یاډاکو وو وژل شونوده ته به غسل نه ورکول کیږ زموږ په نزد دده دجنازي لمونځ هم نه اداء کیږي حال داچې دامام شافعی رحمه الله په نزد دده دجنازي لمونځ شته، دامام شافعی رحمه الله دلیل دادی چې باغی اوډاکو مؤمن دی نودا هغه شخص په شان دی کوم چې په رجم یاقصاص کې وژل شوی وي اوپه رجم یاقصاص کې دقتل شوی دجنازي لمونځ شته نودډاکو او باغی دجنازي لمونځ به هم اداءکیږي، زموږ دلیل دادی چې حضرت علی رضي الله عنه خوارجو ته نه غسل ورکړی وو او نه یې ددوئ دجنازي لمونځ اداء کړی وو او خوارج باغیان وو حضرت علی رضي الله عنه ته وویل شول اهم کفار؟ (ایادوئ کافران دی؟) نوده رضي الله عنه وفرمایل ولکنهم اخواننا بغوا علینا (یادزموږ مسلمانان وړونه دي پرموږیې بغاوت کړی دی) نودادوئ لپاره زجرا وعقوبت دي مګر شرط دادی چې دجنګ په دوران کې به وژل شوي وي که وروسته وژل شول نودوئ ته به غسل ورکول کیږي اوپردوئ به دجنازي لمونځ اداءکیږي.

باب الصلاة فی الکعبة

داباب په کعبه کې دلمونځ اداءکولوپه بیان کې دی

ددي باب له ماقبل سره مناسبت دادی چې لکه څرنګه چې شهید کیدل له عذاب څخه دمامون کیدلو سبب دی همداشان په کعبه کې داخلیدل هم دامن سبب دی لقوله تعالی ﴿من دخله کان امنا﴾ او یادامناسبت دی چې په کعبه کې لمونځ کونکی من وجه مستقبل الکعبة دی اومن وجه مستدبر الکعبة دی همداشان شهید من وجه (عند الله) ژوندی دی اومن وجه (عند الناس) مرده دی نوپه دواړو کې مناسبت دادی چې په هریوه کې دوه جهته شته.

کعبۃ دبیت الحرام نوم دی لغوی معنی یې ثابت اولوړوالی دی له دي څخه کعب فی الرجل او کعوب الرمح او جاریه کاعب ماخوذ دي،زموږ په نزد کعبه دمعین ځای نوم دی که تعمیروي که نه وي او دامام شافعي رحمه الله په نزد کعبه دځای او تعمیر دواړو نوم دی.

(۴۵۳)صح فرض ونفل فیها (۴۵۴)وفوقها (۴۵۵)ومن جعل ظهره الی ظهر امامه فیها صح والی وجهه لا (۴۵۶)وان تحلقوا حولها صح لمن هو اقرب الیها من الامام ان لم یکن فی جانبه

ترجمه:صحیح ده فرض او نفل لمونځ په کعبه کې،او دهغې په سر باندي،او چاکه خپله شا د امام د شا لور ته وګرځوله نو دا صحیح دی او د امام دمخ لور ته نه ده صحیح،او که خلګو حلقه جوړه کړه دکعبې چارپیره نو صحیح دی دهغه لمونځ کوم چې کعبې ته تر امام ډیر نژدې دی په دې شرط چې دامام په طرف کې به نه وي

تشریح:(۴۵۳)زموږ په نزد په کعبه مکرمه کې فرض لمونځ او نفل لمونځ دواړه جائز دي ولی چې دلمانځه ټول شرائط پوره دي حتی چې استقبال قبله هم شته له دي وجې چې دکعبې استیعاب شرط نه دی بلکه دکعبې مکرمې له اجزاو څخه دیوه جز استقبال شرط دی کوم چې موجود دی لهذا دکعبې دننه لمونځ جائز دی دامام مالک رحمه الله په نزد نفل جائز دي فرض جائز نه دي.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد په کعبه کې دننه لمونځ اداء کول جائز نه دي ولی چې په کعبه کې دننه دلمانځه داداء کولو په صورت کې من وجه استدبار کعبه کیږي نو احتیاطا دا مسفد نماز دی.احناف ځواب ورکوي چې هغه استدبار مفسد دی په کوم کې چې استقبال کعبه نه وي په داسې حال کې چې په کعبه مکرمه کې دلمانځه داداء کولو په صورت کې استقبال شته،همدا راز له حضرت بلال رضی الله عنه څخه مروی ده چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په کعبه کې دننه لمونځ اداء کړی دی.

(۴۵۴)قوله وفوقها ای صح علی سطح الکعبة ایضا،یعنی دکعبې مکرمې پر بام باندي هم لمونځ اداء کول صحیح دی که څه هم دده مخته ستره نه وي ولی چې استقبال قبله شته له دي وجې چې کعبه دتعمیر نوم نه دی بلکه دکعبې له عمارت څخه بیا تر اسمان پوري دفضاء نوم کعبه ده له دي وجې دکعبې پر چت دلمانځه داداء کولو په صورت کې هم استقبال کعبه متحقق دی.

ف:البته دکعبې پر بام باندي لمونځ اداء کول مکروه دي ولی چې په دي کې ترک تعظیم دی کمافی شرح التنویر:(یصح فرض ونفل فیها وفوقها) ولو بلاسترة لان القبلة عندنا هی العرصة والهواء الی عنان السماء (وان کره الثانی)للنهی وترک التعظیم (الدر المختار علی هامش رد المحتار:۲۴۳/۱).

(۴۵۵)دکعبې دننه دلمانځه داداء کولو په صورت کې که چاخپله شا دامام دشا طرف ته وګرځوله نو دده لمونځ صحیح دی.په کعبه کې دننه په جماعت سره دلمانځه داداء کولو دري صورتونه دي (۱)دمقتدی شا دامام دشا طرف ته وي په دي صورت کې دمقتدی لمونځ بلاکراهته صحیح دی ولی چې په دي صورت کې استقبال کعبه متحقق دی.(۲)دمقتدی شا دامام دمخ طرف ته وي په دي صورت کې دمقتدی لمونځ صحیح نه دی ولی چې په دي صورت کې مقتدی له امام څخه مخکې دی (۳) دمقتدی مخ دامام دمخ طرف ته وي دا صورت دبتانو دعبادت کونکو سره دمشابهت له وجه مکروه دی.

(۴۵۶)يعني که امام له کعبې څخه دباندې په مسجد حرام کې جمع ورکوله اوخلګوداما اقتداء وکړه اودکعبې مکرمې چارچاپېره يې صفونه جوړکړل نودامام دطرف څخه ماسواپه دانوروطرفو کې له مقتدی دامام په نسبت کعبې ته ډيرقريب وو نوددي مقتديانولمونځ جائزدی ليکن په کوم طرف کې چې امام دی که په همدغه طرف کې مقتدی له امام څخه کعبې ته ډيرقريب وو نودده لمونځ صحيح نه دی ولې چې دمقتدی له امام څخه مقدم يامؤخرکيدل داتحادجهت په صورت کې ښکاره کيږي لهذاپه اول صورت کې مقتدی له امام څخه مقدم نه دی په دي وجه دده لمونځ صحيح دی اوپه دوهم صورت کې مقتدی له امام څخه مقدم دی له دي وجې دده لمونځ جائزنه دی.

كِتَابُ الزَّكَاةِ

داکتاب دزکوة په بيان کې دی

زکوة په لغت کې دنماء (زياتوالی)په معنی دی ويل کيږي زکاالزرع کله چې هغه لوی شي .زکوة هم ځکه چې دزياتوالي سبب دی چې په دنياکې الله تعالی دمزکی مال ورديره وي اوپه اخرت کې ثواب ورکوي .همداشان زکوة دطهارت په معنی هم راځي ولی چې په زکوة اداء کولوسره مزکی له ګناه څخه پاکيږي،اوشرعاًدمخصوص مال دمخصوص جزء مخصوص شخص صرف دالله تعالی لپاره مالک جوړولوته زکوة ويل کيږي،زکوة په دوهم هجری کال کې له روژي څخه مخکې فرض شوی دی .

مناسب خوداوو چې له کتاب الصلوة وروسته يې کتاب الصوم ذکرکړی وای ولې چې صلوة اوصوم دواړه بدني عبادتونه دي.ليکن دکتاب الله ﷻ اوحديث رسول ﷺ داقتداء په وجه يې له کتاب الصلوة څخه وروسته کتاب الزکوة ذکرکړ،دکتاب الله اقتداء په دي شان سره وشوه چې دالله تعالی په ارشاد ﴿اقيموا الصلوة واتوا الزكوة ﴾(اوقائم کړی تاسې لمونځ اواداء کړئ زکوة)کې له صلوة سره متصل دزکوة يادونه شوی دی ،اودحديث رسول اقتداء په داسې شان سره وشوه چې دنبی کريم ﷺ په قول ﴿بنی الاسلام علی خمس شهادة ان لااله الاالله وان محمدارسول الله واقام الصلوة وايتاء الزكوة الخ ﴾(يعنی داسلام بيناد په پنځوشيانوقائم کړل شوی دی يوددي حقيقت ګواهي ورکول چې له الله ﷻ څخه ماسواکوم اله نشته اومحمد ﷺ دده بنده اورسول دی دوهم لمونځ قائمول دريم زکوة ورکول الخ)کې له صلوة څخه وروسته متصل دزکوة ذکردی.

دزکوة دفرضيت دري دلائل دي /نمبر۱. کتاب الله ،دالله تعالی ارشاددی ﴿ وآتوا الزكاة ﴾ (زکوة اداء کړئ)، نمبر۲.دنبی کريم ﷺ قول دی﴿ ادوازكوة اموالكم ﴾(دخپلومالونوزکوة اداء کړئ)نمبر۳.دريم دليل اجماع امت ده چې دنبی کريم ﷺ له زمانې څخه ترننه پوري دټول امت دزکوة په فرضيت باندي اجماع ده.

الحكمة:ان اداء الزكوة من باب اعانة الضعيف واغاثة الملهوف والقدار العاجز وتقويته على اداء ماافترضه الله عز وجل عليه من التوحيد والعبادات والوسيلة الى اداء المفروض ،والثاني ان الزكوة تطهر نفس المؤدی من انجاس الذنوب وتزكی اخلاقه بتخلق الجود والكرم وترك الشح والضن اذالانفس مجبولة على الضن بالمال فتتعود السماحة وترتاج لاداء الامانات وايصال الحقوق الى مستحقيها ,والثالث ان الله سبحانه وتعالى انعم على الاغنياء وفضلهم بصنوف النعمة والاموال الفاضلة عن الحوائج الاصلية وخصهم بها فيتنعمون ويتلذذون بلذيذ العيش وشكر النعمة فرض عقلاوشرعاًواداء الزكوة الى الفقير من باب شكر النعمة فكان فرضا(حكمة التشريع)

(۱)هي تمليك المال من فقير مسلم غير هاشمي ولا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالى (۲)وشرط وجوبها العقل والبلوغ والإسلام والحرية وملک نصاب حولي فارغ عن الدين وحاجته الأصلية نام ولو تقديرا (۳)وشرط أدائها نية مقارنة للأداء أو لعزل ما وجب أو تصدق بکله

ترجمه:زکوة مالک جوړول دي دمال مسلمان فقير لره کوم چې هاشمی نه وي اونه دهاشمی غلام وي په دي شرط چې دالله تعالى لپاره دمالک منفعت له مال څخه هر قسم منقطع وي ،اودوجوب زکوة شرط عقل اوبلوغ او اسلام اوازادی اود داسې مال مالک والی دی په کوم چې کال تیر شوی وي ،له قرض اودده له حاجت اصليه څخه فارغ وي ،مال زياتيدونکی وي که څه هم تقديرا وي ،اوداداء دزکوة شرط داسې نيت دی کوم چې له اداء سره يا دمقدار واجب له جلاکولو سره مقارن وي يا ټول مال صدقه کړي .

تشريح:(۱)مصنف رحمه الله دزکوة شرعی تعريف کړی دی چې محض دالله تعالى درضا لپاره بې له کوم عوض څخه مسلمان فقير دمال مالک جوړولو ته زکوة ويل کيږي په دی شرط چې هغه فقير به هاشمی نه وي (له هاشميانو څخه مراد هغه دي کوم چې بنو هاشم ته منسوب وي يعني ال علی ﷺ ،ال عباس ﷺ ،ال عقيل ﷺ ،اوال حارث بن عبدالمطلب)هاشميانو ته زکوة ورکول په دي وجه ناجائزدي چې دنبی کريم ﷺ ارشاد دی﴿ان هذه الصدقات انما هي اوساخ الناس وانها لاتحل لمحمد ولا لآل محمد﴾(يعنی صدقې دخلکو خيري دي اودا دمحمد ﷺ اودآل محمد ﷺ لپاره حلال نه دي)اوداهم شرط دی چې فقير به دهاشميانو ازاد کړای شوی غلام نه وي ولی چې دبنو هاشم ازاد کړل شوی غلام هم دزکوة په حرمت کې دبنو هاشمو په حکم کې دی﴿لقوله ﷺ مولى القوم من انفسهم وانا لاتحل لنا الصدقة﴾(يعنی دکوم قوم مولی هم دهغه قوم شخص بلل کيږي اوزموږ لپاره صدقه حلاله نه ده)اوداهم شرط ده چې دمال منفعت به په ګلی ډول سره له مالک څخه منقطع کيږي .په دي قيد سره احترازدی له دي صورت څخه چې مزکی خپلو اصولو ،فرعو يا خپلې ښځې ته زکوة ورکړي ځکه چې په دي صورتونو کې دمالک منفعت په ګلی ډول سره نه منقطع کيږي . مصنف رحمه الله زکوة ته واجب مجازاً ويلی دی ځکه چې زکوة په دليل قطعی سره ثابت دی لهذا بايد فرض ورته ويل شوی وای .

ف:زکوة،عشر ،صدقه فطر اوقرباني پوستکي دامامت په اجرت کې مقررول شرعاً جائزنه دي اونه په دي سره زکوة اداء کيږي ،دامام لپاره بايد پوره تنخوا جلا مقرره شي البته له تنخوا اخيستلو څخه وروسته که بيا هم امام صاحب نصاب نه وو نو ده زکوة ،صدقه فطر ،عشر اوقرباني پوستکي وغيره ټول ورکولای شي اوددې له امامت سره هيڅ تعلق نشته .(هنديه :۱/۱۹۵)فتاوی عثمانی :۲/۱۵۷)

(۲)دوجوب زکوة لپاره څه شرطونه دي .نمبر۱. زکوة پرعاقل فرض دی پرمجنون فرض نه دی./نمبر۲.زکوة پربالغ فرض دی پرنابالغ نه .ددي دوو شرطونه وجه داده چې زکوة يو عبادت دی اوکوم شی چې عبادت وي هغه بغير له اختيار څخه نه اداء کيږي په دي وجه چې عبادت دابتلاء اوامتحان نوم دی اودامتحان معنی بغير له اختيار څخه تحقق نه لري په داسې حال کې چې په مجنون او نابالغ کې عقل اوپوهه نشته په دي وجه دوئ لره اختيار هم نشته اوکله چې اختيار نه وي نو دزکوة اداء له دوئ څخه نشي کيدای نوفرض هم نه ده ./نمبر۳.زکوة پرمسلمان فرض دی پرغير مسلمان نه ولی چې اسلام دټولو عباداتو دصحت لپاره شرط دی له کافر څخه يو عبادت هم نشي متحقق کيدای ./نمبر۴. زکوة په ازاد فرض دی په غلام

اومکاتب فرض نه دی په دي وجه چې زکوة پرملک وي اوکامل ملکیت په اِزادي سره متحقق کیږي له غلامي اوکتابت سره نه ځکه چې غلام خوبالکل دهیڅ شي مالک نه دی اومکاتب که څه هم مالک وي مګرملکیت یې ناقص وي لهذا پرغلام اومکاتب باندې زکوة فرض نه دی.

/نمبر ۵. دزکوة دفرضیت لپاره دقدرنصاب (په لغت کې نصاب داصل په معنی دی اوپه شریعت کې دمال، اسبابو او حیواناتو دهغه مقدارنوم دی پرکوم چې زکوة واجبیږي)مالک والی شرط دی لقوله ﷺ (لیس فیمادون خمس اواق صدقة ولیس فیمادون خمس ذودصدقة ولیس فیمادون خمسة اوسق صدقة)(یعنی له پنځواوقیوڅخه په کم کې زکوة نشته اوله پنځواوښانوڅخه په کموکې زکوة نشته اوله پنځووسقوڅخه په کموکې زکوة نشته)نوڅرنګه چې نبی کریم ﷺ دزکوة سبب په مقدارسره مقدرکړی دی نوپه دي وجه فقهاودزکوة دوجوب لپاره دمقدارنصاب مالک والی شرط ګرځولی دی.

ف: دزکوة دوجوب لپاره شخصي ملکیت ضروري دی په دي وجه دمدارسویاخیریه ادارو په پیسوله حولان حول سره سره زکوة نه واجبیږي. (حقانیه: ۴/۶۸)

نمبر ۶. دزکوة دفرضیت لپاره حولان حول (یعنی پرمال دکال تیریدل)شرط دی لقوله ﷺ لازکوة حتی یحول علیه الحول (یعنی په مال کې زکوة نشته ترڅوچې پرهغه کال تیرنشي).

الالغاز: ای نصاب حولی فارغ عن الدین ولازکوة فیه؟

فقل: المهرقبل القبض (الاشباه والنظائر).

/نمبر ۷. همداشان داهم شرط دی چې نصاب به له دین (پور)اوحاجت اصلي څخه فارغ وي که پرچادومره قرض باندې وو چې دده ټول مال لره محیط(یعني ټول مال یې په پورکې ختمیدو) وو یامال له قرض څخه زیات وو مګرهغه زائدبقدرنصاب نه وو نوپرده زکوة فرض نه دی ولی چې دمدیون مال دده په حاجت اصلی سره مشغول دی لهذادامال معدوم شمارل کیږي اوکه له قرض څخه زیات مال بقدرنصاب وو نوپه دي زیات مال کې زکوة واجب دی ولی چې داله حاجت اصلی څخه فارغ دی، حاجت اصلی هغه ته ویل کیږي چې په ده سره انساني هلاکت اوتکلیف ختمیږي، نوداوسیدلوپه کورنو، دبدن په جامو، دکورپه سامان، سوارلي په حیواناتو، دخدمت په غلامانو، الات صنعت وحرفت (مثلاد حلوائی دیګونه. دنجاري سامان)اوداستعمال په اسلحه کې زکوة نشته ولی چې داشیان په حاجت اصلی کې مشغول دی. /نمبر۸

[illegible] داهم شرط دی چې مال به زیاتیدونکی وي ولی چې دزکوة سبب زیاتیدونکی مال دی که حقیقة زیاتیدونکی وي او که تقدیراً. حقیقة زیاتوالی کله په توالداو تناسل سره وي لکه په حیواناتوکې اوکله په تجارت سره وي لکه: تجارت په منونوکې. اوتقدیرا زیاتوالی، داده چې زیاتوالی ممکن وي چې مال دمالک په لاس کې وي یادهغه دنائب په لاس کې وي.

ف: نوپه مال ضمار(مال ضمارهغه مال دی چې دقیام ملک سره په هغه انتفاع ممکنه نه وي)کې زکوة واجب نه دی مثلاً تښتیدلی غلام اوداسې مغصوب مال چې پرهغه کوم ګواه نه وي لمافی شرح التنویر: لازکوة فی مال مفقودوساقط فی بحرومغصوب لابینة علیه فلوله بینة تجب لمامضی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: ۲/۱۰)

(۳)يعنې دزكوة داداء كولو شرط دزكوة په نيت سره دمال وركول ... نه دي وجې چې زكوة اداء كول عبادت دى اودعبادت لپاره نيت شرط دى ،كه نيت له اداء سره متصل وي نو هم جائزدى اوكه دټول مال حساب وكړي دزكوة چې څومره مقدار جوړيږي هغه دزكوة په نيت سره له خپله مال څخه جلاكړي نودانيت هم كانى دى ،اصل خودادى چې نيت له اداء سره متصل شي ليكن كله انسان په متفرقووختونو كې متفرقوخلكوته زكوة وركوي نوكه هرځل نيت ضروري وګرځول شي نوداشخص به په حرج كې مبتلا ، شي لهذادفع حرج لپاره دمال زكوة له خپله ماله څخه دجلاكولو دوخت په نيت باندي اكتفاء شوى ده ،همداشان كه چاخپل ټول مال صدقه كړحال داچې دزكوة نيت يې نه وكړى نو استحساناً فرض زكوة ساقطيږي ولې چې واجب خوپه دې مال كې يوجزء دى اوهغه په دې كې متعين دى لهذادهغه دمتعين كولو ضرورت نشته، اما دزكوة نيت بې شكه چې شرط دى كوم چې دلته نشته مګر څرنګه چې داصل عبادت نيت شرط دى ترڅوپه عبادت اوعادت كې فرق وشي اوهغه موجودشو ولې چې زمونږخبره په هغه صورت كې ده چې ټول مال كوم فقيرته وركړي اوله هغه څخه دالله تعالى رضامندى حاصلول مقصود وي له دې څخه علاوه دفرض زكوة نيت كول ضروري نه دي ځكه چې ددې ضرورت دتعين لپاره دى حال داچې نصاب زكوة متعين دى .

بَابُ صَدَقَةِ السَّوَائِمِ

داباب دحيوانانو دزكوة په بيان كې دى

مصنف رحمه الله دمالونو دزكوة دتفصيل پيل دحيواناتو دزكوة په بيان سره وكړاوپه څارويو كې يې هم داوښانوپه زكوة شروع وكړه وجه داده چې نبى كريم ﷺ چې دزكوة په سلسله كې كوم خط تحرير فرمايلې وو په هغه كې ترټولو مخكې داوښانو دزكوة بيان دى نومصنف رحمه الله دنبى كريم ﷺ دخط اتباع كړي ده،همداشان دعربوپه نزداوښ په هغه زمانه كې ديراهم اواشرف مال ګڼل كيده په دې وجه يې داوښانو دزكوة بيان مخته كړ.

(۴)هِيَ الَّتِي تَكْتَفِي بِالرَّعْيِ فِي أَكْثَرِ السَّنَةِ(۵) وَيَجِبُ فِي خَمْسٍ وَعِشْرِينَ إِبِلاً بِنْتُ مَخَاضٍ (۶) وَفِيمَا دُونَهَا فِي كُلِّ خَمْسٍ شَاةٌ(۷) وَفِي سِتٍّ وَثَلَاثِينَ بِنْتُ لَبُونٍ (۸) وَفِي سِتٍّ وَأَرْبَعِينَ حِقَّةٌ(۹) وَفِي إِحْدَى وَسِتِّينَ جَذَعَةٌ(۱۰) وَفِي سِتٍّ وَسَبْعِينَ بِنْتَا لَبُونٍ وَفِي إِحْدَى وَتِسْعِينَ حِقَّتَانِ إِلَى مِائَةٍ وَعِشْرِينَ

ترجمه:سوائم هغه دي كوم چې ګذاره كوي په اكثر دكال كې په دباندي څريدلو باندي ،اوواجب دى په پنځه ويشت اوښانو كې يوبنت مخاض ،اوله دې څخه په كمو كې په هرو پنځو كې يوه پسه دى ،اوپه شپږديرشو كې بنت لبون دى ،اوپه شپږڅلويښتو كې يوه حقه ده ،اوپه يوشپيته كې يوه جذعه ده ،اوپه شپږاوياكې دوه بنت لبون دي ترنيوى پوري اوپه يونيوى كې دوه حقې دي تريوسل اوشلو پوري .

تشريح :(۴)مصنف رحمه الله دسائمه څارويو تعريف كړى دى چې سائمه څاروي هغه دي چې دكال په اكثر برخه كې په ځنګل كې په څريدلو ګذاره كوي حتى كه يې شپږمياشتې ياله دې څخه زيات وخت په كوركې

وابنه ورکړنو هغه څاروی سائمه نه دي لهذا په دوئ کې زکوة هم واجب نه دی ،ليکن په سائمه څارويوکې دزکوة دوجوب لپاره شراط دادی چې له دوئ څخه به مقصودشيدي اودنسل زياتوالی وي ولی چې که له دوئ څخه مقصودسورلی ياغوښه وي نوپه دوئ کې زکوة واجب نه دی .(کذافی احسن الفتاوی :۴/۲۸۵)

ف :همداشان که له حيواناتو څخه مقصودتجارت وو نوپه دي څارويوکې دڅارويوزکوة واجب نه دی يعنی په دوئ کې زکوة دتعدادپه اعتبارسره نه دی بلکه دقيمت په اعتبارسره واجب دی نوکه ددوئ قيمت بقدرنصاب وو مثلاً دوسوو درهمويا شل مثقالوته ددوئ قيمت رسيدونوپه دوئ کې دتجارت والازکوة (يعنی څلويښتمه حصه)واجب دی.

ف :له څارويو څخه دتجارت دمقصودوالی مطلب دادی چې داخيستلوپه وخت ددوئ ديرته خرڅولو نيت وي،که يې له اخيستلو څخه وروسته دخرڅولونيت وکړ،ياداچې داصل دبقااودنسل دخرڅولونيت وي که يې داصل داخيستلوپه وخت کې دانيت وي ياوروسته وي ،په دې ټولوصورتونه کې داڅاروي دتجارت نه شمارل کيږي .(احسن الفتاوی :۴/۲۸۵)

(۵)په پنځه ويښتو اوښانوکې يوبنت مخاض (داوښ هغه ښځينه اولادته کوم چې يوکال يې پوره وي اوپه دوهم کال کې يې شروع کړي وي بنت مخاض ويل کيږي)واجب دی .

(۶)اوله پنځه ويښتو څخه په کمواوښانوکې په هرو پنځواوښانوکې يوپسه دی نوکه له څلورو پنځه سائمه اوښان وي اوپرهغوکال تيرشي نوپه دوئ کې يوپسه واجب دی ،بياله پنځو څخه ترنهوپوري عفودی يعنی په نهوکې هم هغه يوپسه دی کله چې لس شي نوپه دوئ کې دوه پسونه دي اوله لسو څخه ترڅوارلسوپوري معاف دي کله چې پنځه لس شي نوپه دوئ کې دري پسونه دي اوله پنځه لسو څخه ترنولسوپوري معاف دي کله چې شل شي نوپه دوئ کې څلورپسونه دي اوله شلو څخه ترڅلورويښتو پوري معاف دي .

(۷)له پنځه ويښتو څخه ترپنځه ديرشوپوري معاف دي کله چې شپږديرش شي نوپه دوئ کې يوبنت لبون (هغه ښځينه اولادته دکوم چې دوه کاله پوره وي اودريم يې شروع وي بنت لبون ويل کيږي) واجب دی .

(۸)اوله شپږديرشو څخه ترپنځه څلويښتوپوري عفودي کله چې شپږ څلويښت شي نوپه دوئ کې يوه حقه (هغه ښځينه اولادته دکوم چې دري کاله پوره وي اوڅلورم يې شروع وي حقه ويل کيږي) واجب دی اوله شپږ څلويښتو څخه بياترشپيتو پوري عفودي .

(۹)کله چې يوشپيته شي نوپه دوئ کې يوه جذعه (هغه ښځينه اولادته دکوم چې څلورکاله پوره وي اوپنځم يې شروع وي جذعه ويل کيږي)واجب دی اوله يوشپيته څخه بياترپنځه اوياپوري عفودي .

(۱۰)اوله چې شپږاوياشي نوپه دوئ کې دوه بنت لبونه دي اوله شپږاوياڅخه بياترنيوي پوري عفودي اوکله چې يونيوي شي نوپه دوئ کې دوه حقې دي له يونيوي څخه بياتريوسل اوشلوپوري عفودي

،ددي تول تفصيل دليل دادى چې اثار په دي متفق دي اودنبى كريم ﷺ دزكوة فرمان په همدي تفصيل سره مشهور دى اوپه همدي دامت اجماع ده.

(۱۱) ثم في كل خمس شاة إلى مائة وخمس وأربعين (۱۲) ففيها حقتان وبنت مخاض (۱۳) وفي مائة وخمسين ثلاث حقاق (۱۴) ثم في كل خمس شاة وفي مائة وخمس وسبعين ثلاث حقاق وبنت مخاض وفي مائة وست وثمانين ثلاث حقاق وبنت لبون وفي مائة وست وتسعين أربع حقاق إلى مائتين ثم تستأنف الفريضة أبدا كما تستأنف في مائة وخمسين (۱۵) والبخت كالعراب

ترجمه:بيا په هرو پنځو كې يو پسه دى تر يو سل او پنځه څلويشتو پورې ،بيا نو په دوئ كې دوه حقې او يو بنت مخاض دى اوپه يوسل او پنځوس كې درې حقې دي ،بيا په هرو پنځو كې يو پسه دى اوپه يوسل او شپږ اتيا كې درې حقې اويو بنت لبون دى اوپه يوسل او شپږنيوې كې څلور حقې دي تر دووسو پورې بيا به له سره حساب كيږي هميشه لكه له يوسل او پنځوس وروسته چې وو ،اوبختى اوښ دعربى اوښ په شان دى.

تشريح:(۱۱)يعنى له يوسل اوشلو اوښانو څخه كه دچا اوښان زيات شول نو فريضه به له سره راګرځي نو كه پنځه اوښان زيات شول نو يو پسه اودوه حقې به واجب وي اوكه لس زيات شول نو دوه پسونه اودوه حقې به واجب وي اوكه پنځلس زيات شول نو درې پسونه اودوه حقې به واجب وي اوكه شل زيات شول نو څلور پسونه اودوه حقې به واجب وي.

(۱۲)اوكه پنځه ويشت زيات وي (يعنى ټول تعداد يوسل او پنځه څلويښت وي)نو يو بنت مخاض اودوه حقې واجب دي ترنهه ويشتوپورې همدغه حساب دى كله چې ديرش زيات شي يعنى داوښانو ټول تعداد يوسل او پنځوس شي نو په دي كې درې حقې واجب دي.

(۱۳)له دي څخه وروسته به فريضه بيرته له سره راګرځي نو په پنځو كې يو پسه ،په لسو كې دوه پسونه ،په پنځلسو كې درې پسونه ،په شلو كې څلور پسونه په پنځه ويشتو كې بنت مخاض يعنى كله چې تعداد يوسل او پنځه اويا شي نو درې حقې اويو بنت مخاض واجب دى اوپه يوسل او شپږ اتيا كې درې حقې اويو بنت لبون واجب دى اوكله چې داوښانو تعداد يوسل او شپږنيوې ته ورسيږي نو په دوئ كې څلور حقې دي تر دووسو پورې ،له دي څخه وروسته به فريضه هميشه په دي شان راګرځي لكه څرنګه چې له يوسل او پنځوس څخه وروسته په پنځوسو كې راګرځيدله نو كه له دوسوو څخه پنځه زيات شول نو په دي كې څلور حقې اويو پسه واجب ده اوكه لس زيات شول نو څلور حقې اودوه پسونه واجب دي الخ حتى چې پرهر پنځوسو كې يوه حقه ده.

(۱۴)يعنى بختى اوښ اوعربى اوښ دواړه په نصاب اومقدار وجوب كې سره برابر دي كله چې نصاب ته ورسيږي نو په دوئ كې زكوة واجب دى ځكه چې ابل دواړو ته شامل دى نو دابل په باره كې چې كوم نص وارد دى هغه دواړو ته شامل دى.

ف:كوم اوښ چې دعربى اوعجمى له مخلوطې نطفې څخه پيداوي هغه ته بختى ويل كيږي ،دبخت نصر طرف ته منسوب دى ولې چې تر ټولو له مخه بخت نصر عربى اوعجمى سره جمع كړي وو كله چې له هغه څخه بچى پيدا شو نو خلكو هغه ته بختى ويل شروع كړل ،بخت نصر مركب نوم دى دابن صنم (دبت زوى)په

معنی ـ ... چې داله بت سره پیداشوی وو دده پلار معلوم نه دی له دي وجې یې دی بت ته منسوب کړی دی کماقال ابن عابدین: وکان وجدعندالصنم ولم یعرف له اب فنسب الیه (ردالمحتار:۲/۱۸)

بَابُ صَدَقَةِ الْبَقَرِ

دافصل دغوایانو دزکوة په بیان کې دی

مصنف رحمه الله دصدقة البقربیان ترصدقة الغنم په دي وجه مخته کړچې بقردخپل جسامت اوقیمت په اعتبارله اوبنې سره ډېرمناسبت لري لهذاداوبنانو دزکوة له بیانولو څخه وروسته یې دغوایانو دزکوة په بیان شروع وکړه اوبقرته بقرپه دي وجه ویل کیږي چې بقردځیري کولوپه معنی دی .اوبقرهم ځمکه په خپلو ښکروسره ځیري کوي .بقرجنس دی دده واحدبقرة دی که مذکروي که مؤنث .لکه تمراوتمرة نودده تاء دوحدت لپاره دده دتانیث لپاره نه ده .

(۱۵) في ثلاثين بقرة تبيع ذوسنة أوتبيعة (۱۶) وفي أربعين مسن ذوسنتين أومسنة (۱۷) وفيمازادبحسابه إلى ستين ففيهاتبيعان (۱۸) وفي سبعين مسنة وتبيع (۱۹) وفي ثمانين مسنتان (۲۰) فالفرض يتغير في كل عشر من تبيع إلى مسنة (۲۱) والجاموس كالبقر

ترجمه: په دیرشو غوایانو، غواوو کې یو کلنی سخندر یا سخندره ده .اوپه څلویښتو کې دوکلنی سخندر یا سخندره ده. او له دي څخه په زیاتو کې په همدي حساب سره دی ترشپیتو پوري په شپیتو کې دوتبیع دي ،اوپه اویاوو کې یو مسن اویو تبیع ده ،اوپه اتیاوو کې دوه مسني دي .نوفرض متغیرکیږي په هرلسو باندي له تبیع څخه مسني ته .اوګامیښه دغواپه شان ده .

تشریح:(۱۵)یعنی له دیرشو غواوو څخه په کموکې زکوة نشته اوپه دیرشو کې په دي شرط چې سائمه به وي اوپردوئ به کال هم تیرشوی وي یوه تبیع (دغوایو کلنی نربچی)یاتبیعه (دغوایو کلنی ښځینه بچی)واجب دی .

(۱۶)بیاتر څلویښتو پوري معاف دي اوپه څلویښتو کې یو مسن (دغوادوکلنی نربچی)یایوه مسنه (دغوادوکلنی ښځینه بچی)واجب دی ولی چې نبی کریم ﷺ حضرت معاویه رضی الله عنه دیمن والی مقررکړاوویې لیږداوو نوده ته یې حکم وکړچې په هرودیرشو بقروکې یوتبیع یایوه تبیعه اخله اوپه هرو څلویښتو بقروکې یومسن یایوه مسنه اخله .

(۱۷)یعنی کله له څلویښتو بقروڅخه زیات شونوله امام ابوحنیفه رحمه الله څخه یوروایت دادی چې له څلویښتو څخه په زیاتو کې ترشپیتو پوري بقدرحساب زکوة واجب دی چنانچه که له څلویښتو څخه یوزیات شونوپه ده کې دمسني ربع عشرده یعنی په یوڅلویښتوبقروکې یوه مسنه واجب ده اوپه یوه زیات کې دیوي مسني څلویښتمه حصه واجب ده اوددوو داضافه کیدوبه صورت کې دمسني نصف عشرواجب دی یعنی په دوڅلویښتوکې یوه مسنه اوپه دوو زایدوکې دمسني دوه څلویښتمي حصې واجبې دي اوددریوداضافه کیدوپه صورت کې دمسني دري ربع عشردي یعنی په دري څلویښتوکې یوه مسنه اودمسني دري څلویښتمي حصې واجب دي علی هذاالقیاس ترشپیتوپوري .ددي روایت دلیل دادی چې له دیرشوڅخه

تر څلويښتو پورې عفو خلاف القياس په روايت سره ثابته ده لهذا په دې باندې كوم بل مقدار نشي قياسيدای ،اوله څلويښتو څخه ترشپيتو پورې د عفو په باره کې کوم روايت نشته لهذا معاف نه دی.

ف:دصاحبينو په نزد له څلويښتو څخه يا ترشپيتو پورې هيڅ نشته همدا يو روايت له امام صاحب څخه هم دی اوهمدا اعدل الاقوال او مفتی به بلل شوی دی كمافي الشامية:(قوله بحرعن الينابيع)عزاه في البحر الى الاسبيجابي وتصحيح القدوري وليس فيه ذكر الينابيع وفي انهروهي اعدل كمافي المحيط وفي جوامع الفقه المختار لولهما وفي الينابيع والاسبيجابي وعليه الفتوى(ردالمحتار:۲/۲۰)،دصاحبينو دليل دادی چې كوم وخت حضرت معاذ بن جبل ﷺ له يمن څخه دنبی كريم ﷺ په خدمت كې حاضرشو نونبی كريم ﷺ ده ته وفرمايل﴿ لاتاخذمن اوقاص البقرشيا﴾(يعنی له اوقاص بقرڅخه مه اخله) علماو داوقاص تفسير د څلويښتو اوشپېتو په مابين باندې كړی دی ،اوپه شپېتو بقرو كې دوتبيع يا دوه تبيعې دي.

(۱۸)اوپه اوياوو كې يوه مسنه او يوه تبيع ده يعنی په څلويښتو كې مسنه او په ديرشو كې تبيع ده

(۱۹)اوپه اتياوو كې دوه مسنې دي يعنی په هرو څلويښتو يوه مسنه ده اوپه نيوي كې دري تبيعې دي اوپه سلو كې دوه تبيعې او يوه مسنه ده، (۲۰)له دې وروسته په اتياوو قياس دی نو په هره لسيزه دزكوة فريضه متغيره كيږي له تبيع څخه مسنې ته اوله مسنې څخه تبيعې ته ،لهذا په يوسل اولسو كې يوه تبيع اودوه مسنې دي اوپه يوسل اوشلو كې كه دمالک خوښه وي نودرې مسنې دي وركړي اوكه يې خوښه وي نوڅلور تبيعې دي وركړي﴿ لقوله ﷺ في كل ثلاثين من البقرتبيع اوتبيعة وفي كل اربعين مسن اومسنة ﴾(يعنی په هرو ديرشو بقرو كې يو تبيع يا يوه تبيعه ده اوپه هرو څلويښتو بقرو كې يو مسن يا يوه مسنه ده.

(۲۱)قوله والجاموس كالبقراي الجاموس في حكم وجوب الزكوة كالبقر،يعنی ګاميښه او غوا دزكوة په حكم كې سره برابري دي حتی دبقرې په شان په ديرشو ګاميښو كې يو كلنی بچی اوپه څلويښتو ګاميښو كې دوكلنی بچی واجب دی ولی چې دبقرلفظ غوا او ګاميښو دواړو ته شامل دی.

ف:غوا او ګاميښه څرنګه چې دزكوة اواضحيې په احكامو كې يو جنس دی لهذا كه ددواړو مجموعه بقدرنصاب يعنی ديرش يا له ديرشو څخه زياته وه نوزكوة فرض دی په دواړو كې چې دكوم عدد زيات وو په زكوة كې دې هغه وركوي اوكه دواړه سره برابري وي نو په دواړو كې دې له اعلی قسم څخه دادنی قيمت والا وركوي او يا له ادنی قسم څخه داعلی قيمت والا وركوي دبزې اوپسه همدغه حكم دی .(احسن الفتاوی :۴/۲۸۵)قال ابن عابدين:لان النصاب اذاكان ضانايؤخذ الواجب من الضان ولو معزافمن المعز ولو منهما فمن الغالب ولو سواء فمن ايهما شاء (ردالمحتار:۲/۲۰)

فصل في الغنم

دا فصل دبزو دزكوة په بيان كې دی

پسه اوبزې دواړو ته شامل دی لفظ غنم اسم جنس دی كوم چې نراو ښځې دواړو ته ويل كيږي په دې وجه مونث من لفظه نشته .بزو ته غنم په دې وجه ويل كيږي چې دوی ددفاع اله نه لري لهذا بزې دهرطلب ـ :

غنيمت دي او دصدقة الغنم بيان يې په صدقة الخيل په دي وجه مخته كړچې ددوئ دكثرت له وجه ددوئ دبيان ضرورت ډير دى يا په دي وجه چې دبزوزكوة متفق عليه دى او داسانوزكوة مختلف فيه دى .

(۲۲) الي أربعين شاة شاة (۲۳) وفي مائة وإحدى وعشرين شاتان (۲۴) وفي مائتين وواحدة ثلاث شياه (۲۵) وفي أربعمائة أربع شياه (۲۶) ثم في كل مائة شاة (۲۷) والمعز كالضأن (۲۸) ويؤخذ الثني في زكاتها لا الجذع

ترجمه: په څلويښتو بزوكې يوه بزه ده ، او په يوسل او شلوكې دوه بزې دي ، او په دوه سوه يوه كې درې بزې دي ، او په څلورسووكې څلوربزې دي ، بيا په هرو سلوكې يوه ابزه ده ، او بزه دپسه پشان ده ، او دبزو په زكوة كې به ثنى اخيستل كيږي نه جذع .

تشريح :(۲۲) يعنى له څلويښتوسائموبزوڅخه په كموكې زكوة نشته كله چې څلويښتوته ورسيږي نو په دوئ كې يوه بزه واجب ده په دي شرط چې دابزې به سائمه وي او پردوئ به كال هم تيرشوى وي .

(۲۳) اوتريوسلوشلو پورې همدايوبزه ده كله چې په يوسل اوشلو يوه زياته شي يعنى يوسل اويوشت شي نو په دوئ كې دوې بزې واجب دي تردوه سوو پورې همدادوه بزې واجب دي .

(۲۴) كله چې پردوه سوه باندې يوه بزه اضافه شي يعنى ټول تعداددوه سوه يوشونو په دوئ كې درې بزې واجب دي .

(۲۵) بيا همدا درې بزې دي ترڅوچې څلورسووته ورسيږي نو په دوئ كې څلوربزې واجب دي .

(۲۶) قوله ثم فى كل مائة شاة اى بعدمابلغت اربع مائة تجب فى كل مائة شاة الى غيرنهاية ،يعنى كله چې ټول تعدادڅلورسوه ته ورسيږي له هغه وروسته په هرو سلو باندې يوه بزه زياتيږي حتى په پنځه سوه كې پنځه او په شپږسوه كې شپږ او په اووسوه كې اوه على هذاالقياس واجب دي همدا تفصيل دنبى كريم ﷺ زكوة په فرمان كې واردشوى دى او په همدې باندې اجماع هم ده .

(۲۷) قوله المعز كالضان اى حكم المعزفي تكميل النصاب ووجوب الزكوة كحكم الضان .يعنى دبزې او پسه حكم دنصاب په مقدار او دزكوة په وجوب او داضحيه په جوازكې يوشان دى يعنى كه بزې او پسونه مخلوط وي او مقدارنصاب ته رسيږي نو په دوئ كې زكوة واجب دى ولې چې په حديث شريف كې دغنم لفظ واردشوى دى اوغنم پسه اوبزې دواړوته شامل دى .ضأن پسه ته ويل كيږي اومعز بزې ته ويل كيږي اوغنم په دواړوكې استعماليږي .

ف:دا بايد يايدو ساتل شي چې دمقدارنصاب بزكوة په وجوب كې دپسه اوبزې حكم يوشان دى مگر دواجب په اداء كولوكې ددواړوحكم يوشان نه دى نوكه له چا سره څلويښت بزې او پسونه وو او پسونه په كې ډيرو نودبزې په وركولو سره واجب زكوة اداء كول جائز نه دي بلكه په دې صورت كې به دا على نوع ادنى وركوي يا به ادنى نوع اعلى وركوي قال ابن عابدين :(قوله لافى اداء الوجب)لان النصاب اذاكان ضانايؤخذالواجب من الضان ولومعزافمن المعز ولومنهمافمن الغالب ولوسواء فمن ايهماشاء جوهرة اى فيعطى ادنى الاعلى اوعلى الادنى كماقدمناه فى الباب السابق (ردالمحتار:۲/۲۰)

(۲۸) دپسونو او بزو په زكوة كې به ثنى اخيستل كيږي ثنى هغه ده چې يو كال يې پوره شوى وي او په هم كې شروع وي اوجذع به نه اخيستل كيږي جذع هغه ده په كوم چې ديوه كال اكثره حصه تيره شوي وي

ولی چې دحضرت علی ﷺ حديث دی لَايُؤْخَذُفِي الزَّكَاةِ إلَّا الثَّنِيُّ فَصَاعِدًا (يعنی په زکوة کې به ثنی اخيستل کيږي ياله هغې څه بالا).

ف:دصاحبينوپه نزدپسه جذع اوثنی دواړه جائزدي﴿ لقوله ﷺ إنَّمَا حَقُّنَا فِي الجذعِ والثنی ﴾ (يعنی زموږحق جذع اوثنی دی) صاحبينوته ځواب ورکول شوی دی چې ستاسې په ذکرشوی روايت کې له جذع څخه مراددا وښانوجذع ده دکوم دعمرچې څلورکاله پوره شوي وي اوپنځم يې شروع وي.

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی کمافی الدرالمختار:وعنه جواز الجذع من الضأن وهوقولهماوالدليل يرجحه ذكره الكمال قال ابن عابدين (قوله ذكره الكمال)واقره فی النهرلکن جزم فی البحروغيره بظاهرالرواية وفی الاختيارانه الصحيح (الدرالمختارمع الشامية:٢/٢١)

(٢٩)وَلَاشَيْءَفِي الْخَيْلِ(٣٠)وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ(٣١)وَالْحُمْلَانِ وَالْفُصْلَانِ وَالْعَجَاجِيلِ(٣٢)وَالْعَوَامِلِ وَالْعَلُوفَةِ

ترجمه:اوهيڅ نه دي واجب په اسانوکې ،اوپه خرواوکچروکې ،اوپه حملان اوفصلان اوعجاجيلوکې ، اودکارپه څارويوکې اوپرکورخوراک کونکوڅارويوکې .

تشريح:(٢٩)دصاحبينوپه نزدپه اسانوکې زکوة واجب نه دی وعليه الفتوی ،دصاحبينودليل دنبی کريم ﷺ ارشاددی﴿لَيسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي فَرَسِهِ وَغُلَامِهِ صَدَقَةٌ ﴾ (يعنی پرمسلمان دهغه په مريي کې اودهغه په اس کې صدقه نشته)،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدکه اسان سائمه وو اونراوښځې دواړه وو ياصرف اسپې وي نوددوئ مالک لره اختياردی که يې خوشه وي دهراس پرسردي يودينارورکړي اوکه يې خوشه وي نوداسانوقيمت دي معلوم کړي اوپه هردووسوو درهمو(درهم دري ماشې يوه رتی اودرتی پنځمه حصه ده)کې دي پنځه درهمه ورکړي ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دنبی کريم ﷺ ارشاددی ﴿ فی کل فرس سائمة ديناراوعشرة دراهم ﴾(يعنی په هرسائمه اس کې يوديناريالس دراهم واجب دي)، اودصاحبينودوړاندي کړای شوي حديث تاويل دادی چې له دي څخه دغازي اس مراددی اوپه فرس غازي کې بالاتفاق زکوة نشته.

ف:دصاحبينوقول راجح دی، کمافی الفقه الاسلامی وادلته :وقال الصاحبان وبقولهمايفتی لازکوة فی الخيل (فقه الاسلامی وادلته :٢/٨٣٧)وقال الشيخ عبدالحکيم الشهيدلکن الراجح قولهمالماقالواان لفظ الفتوی اکدالفاظ الترجيح وقدعلمت التصريح بالفتوی من کبراهل الترجيح وايضاقدعرفت کثرةمن مال الی قولهمامن کبارالمشائخ (هامش الهداية:١/١٧٣)

(٣٠)قوله والبغال والحميرای لاشئ فی البغال والحمير ،يعنی په خرواوکچروکې زکوة نشته ولی چې نبی کريم ﷺ څخه ددوئ په باره کې پوښتنه وشوه نونبی کريم ﷺ وفرمايل﴿ لم ينزل علیّ فيهما شئ ﴾(يعنی پرمادخرواوکچروپه باره کې هيڅ شی نه دی نازل کړل شوی)اودزکوة مقاديرسماعی دي عقلی نه دی نوچې له نبی کريم ﷺ څخه په دي باره کې دڅه شي سماع نشته نوپه دوئ کې به زکوة هم واجب نه وي ،که خره اوکچردتجارت لپاره وو نوپه دوئ کې تجارتی زکوة واجبيږي ولی چې په دي صورت کې زکوة له ماليت سره تعلق لري لکه څرنګه چې په نوروراموال تجارة کې زکوة له ماليت سره تعلق لري .

(٣١)قوله والحملان والفصلان والعجاجيل ای لاشئ فی ولدالضان والناقة والبقرة قبل ان يتم الحول ،يعنی دطرفينوپه نزددبزي، اوښ اوغواپه ترېوکال کم بچيانوکې زکوة واجب نه دی مراددادی چې له يوڅاسره صرف بچيان وي نوپه دوئ کې زکوة نشته اوکه غټان هم وو نوزکوة واجب دی ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزدپه دي

بچيانوكې به له دوئ څخه يودانه واجب وي مثلاً دبزوڅلويشت بچيانوكې يوبچى بطورزكوة واجب دى ،دامام ابويوسف رحمه الله دليل دادى چې له همدې بچيانوڅخه ديوه بچي په وركولوكې دصاحب مال اوفقيردواړورعايت دى په دې وجه چې په صغاروكې لوى څاروى واجب شي نودصاحب مال نقصان دى اوكه زكوة بالكل واجب نه شي نوپه دې كې دفقراء نقصان دى په دې وجه موږداسې قول مختاركړوپه كوم كې چې ددواړوطرفورعايت شوى دى.

دطرفينودليل دادى چې دنصاب په مقداربزكوة كې دقياس هيڅ دخل نشته نوشريعت چې كوم شى واجب كړى دى دهغه واجبول كه ممتنع شونودهغه متبادل به كوم شى واجب نه وي ،اوپه دې بچيانوكې دلوى څاروى په واجبولوكې دصاحب نصاب نقصان دى نوددې واجبول ممتنع شول اوماوردبه الشرع لوى دى لهذاپه دې بچيانوكې به هيڅ شى هم واجب نه وي،همداقول مفتى به دى كمافى الدرالمختار:ولافى حمل وفصيل وعجول وصورته ان يموت كل الكبارويتم الحول على اولادها الصغارالاتبعاللكبيروفى القهستانى عن التحفة الصحيح قولهما.(الدرالمختارمع الشامية:۲/۲۲،كذافى حاشية الشيخ عبدالحكيم الشاه وليكوتي:۱/۱۷۳)

مگرسوال دادى چې زكوة خوپه نصاب دكال تيريدلوڅخه وروسته واجبيږي نوكله چې په وريانو، جونگيانواوسخندرانوكال تيرشونودوئ خوبچيان پاتې نه شول نوددې څه صورت دې چې دادې بچيان هم وي اوپردوئ دې كال هم تيرشي بزكوة دې واجب شي ؟

ځواب :ددې صورت دادى چې له يوچاسره دسائمه څارويونصاب وي پرهغوئ لس مياشې تيرې شوې اودټولوبچيان پيداشول اوصرف بچيان هم قدرنصاب ته رسيږي بيادوئ مندې مړې شوې اوبچيان پاتې شول نوپه دې صورت كې له دوو مياشتووروسته كال پوره كيږي ،نودطرفينوپه نزدپه دې بچيانوكې زكوة نشته اودامام ابويوسف رحمه الله په نزدزكوة واجب دى .

ف:فصلان دفصيل جمع ده داوښې له يوكال څخه كم بچى ته ويل كيږي اوحملان دحمل جمع ده دبزې له يوكال څخه كم بچى ته ويل كيږي اوعجاجيل دعجول جمع ده اوغوابچى ته ويل كيږي .

(۳۲)قوله والعوامل والعلوفة اى لاشئ فى العوامل والعلوفة ،عوامل دعاملة جمع ده هغه څاروى ته ويل كيږي چې دكارلپاره وي اوعلوفة هغه څاروى دى كوم چې نيم كال ياله نيم كال څخه زيات مالك پركورباندې واښه وركړې وي (يعنى سائمه نه وي)زموږپه نزدپه عواملواوعلوفة څارويوكې زكوة نشته ولې چې دزكوة سبب مال نامى دى اودااموالناميه نه دي ولې چې دنماء دليل په مباح ځنگل كې دڅارويوڅرول دي يادوئ دتجارت لپاره برابرول دي اوپه مذكوره څارويوكې څرنگه چې داخبره نشته نوپه دوئ كې نماء هم نشته لهذاپه دوي كې زكوة هم نشته .

ف:دامام مالک رحمه الله په نزدپه عواملواوعلوفة څارويوكې هم زكوة واجب دى ولې چې په (خذمن أموالهم صدقة)(واخله ددوئ له اموالوڅخه صدقه)كې دااموال لفظ مطلق دى هرقسم اوښ غواوغيره ته شامل دى كه عوامل وي ياغيرعوامل، علوفة وي كه سائمه ،امام مالک رحمه الله ته ځواب وركړل شوى دى چې (خذمن اموالهم صدقة)مطلق نه بلكه مجمل دى دنبى كريم ﷺ ارشاد(ليس فى العوامل صدقة)(په كاركونكو څارويوكې زكوة نشته)دهغه لپاره تفسيردى ،اوعلوفه څارويوته څرنگه چې په كوركې خورک وكول كيږي دكوم په

وجه چې په مالک ډيرمصرف راځي لهذاپه دو ئ کې معنى نمانشته حال داچې زکوة په مال نامي کې واجبيږي.

(۳۳)وَالْعَفْوِ (۳۴)وَالْهَالِكِ بَعْدَ الْوُجُوبِ (۳۵)وَلَوْ وَجَبَ سِنٌّ وَلَمْ يُوجَدْ دَفَعَ أَعْلَى مِنْهَا وَأَخَذَ الْفَضْلَ أَوْ دُونَهَا وَرَدَّ الْفَضْلَ (۳۶)أَوْ دَفَعَ الْقِيمَةَ (۳۷)وَيُؤْخَذُ الْوَسَطُ (۳۸)وَيُضَمُّ مُسْتَفَادٌ مِنْ جِنْسِ نِصَابٍ إِلَيْهِ

ترجمه:اوپه عفوکې (زکوة واجب نه دی) اوپه هلاک شويوکې له وجوب څخه وروسته ،اوکه واجب شودکوم عمر والااو هغه موجودنه وو نوله دي څخه دي اعلى ورکړي بزيادت دي واخلي ،اوله دي څخه دي ادنى ورکړي بزيادت دي هم ورکړي ،اووادي خيستل شي درميانه څاروى ،اويوځاى دي کړاى شي له کوم جنس څخه حاصل شوى هغه جنس ته.

تشريح:دمال يونصاب وي اوعفووي مثلاپه پنځواوښانوکې يوه بزه واجبيږي اوترنهوپوري همدايوه بزه ده کله چې لس اوښان شي نوپه دوئ کې دوه بزي او اجيبږي نوپنځه اولس خونصاب دي ليکن په مابين کې له شپږوڅخه ترنهوپوري عفودي.

(۳۳)قوله والعفواى لاشئ فى العفو،يعني ددوو نصابونوپه درمياني مقدارکې زکوة نشته ،په دي کې اختلاف دى چې دزکوة تعلق له عفوسره شته اوکه نه ،دشيخينوپه نزددزکوة تعلق له عفوسره نشته (يعني په عفوکې زکوة نشته)اودامام محمداوامام زفرپه نزددزکوة تعلق له عفوسره هم شته ،ثمره اختلاف له دي مثال څخه ظاهره کيږي چې له چاسره نهه اوښان وو نوپه هغوئ کې يوه بزه واجبه ده نوکه له دوئ څخه څلوراوښان هلاک شول نودشيخينوپه نزدځرنگه چې دزکوة تعلق له عفوسره نشته بلکه له نصاب سره ده اونصاب اوس هم باقي دى لهذااوس به هم په صاحب مال باندي هغه يوبزه اواجبه وي اودامام محمداوامام زفرپه نزدځرنگه چې دزکوة تعلق له عفوسره هم شته لهذاددوئ په نزدبه دبزي قيمت نهه حصي کړي اوپنځه حصې پرده واجب دي اوڅلورحصې ساقطي دي.

دامام محمداوامام زفردليل دادى چې زکوة دنعمت مال دشکرپه طورواجب دى اوټول مال نعمت دى که عفووي اوکه نصاب لهذادزکوة تعلق به هم له ټول سره وي ،دشيخينودليل دادى چې عفوځرنگه چې له وجوب نصاب وروسته ثابتيږي په دي وجه عفودنصاب تابع ده اوقاعده داده چې هلاک شوى مال به تابع ته راجع کيږي نه اصل ته لهذادابه ويل کيږي چې عفوهلاکه شوه نه اصل.

ف:دشيخينوقول راجح دى لمافى القول الراجح:(القول الراجح)هوقول الشيخين قال العلامة عالم بن العلاء الهندى ان المال اذااشتمل على النصاب والعفوفالواجب يتعلق بالنصاب وحده استحساناعندابى حنيفه وابى يوسف حتى لوهلک العفووبقى النصاب بقى كل الواجب الخ(القول الراجح:۱/۱۷۰)

(۳۴)قوله والهالک بعدالوجوب اى لاشئ فى الهالک بعدوجوب الزکوة ،يعني دزکوة له واجبيدلوڅخه وروسته که مال بې له تعدى څخه هلاک شونودهغه زکوة هم ساقطيږي اوکه بعض مال هلاک شونودهغه په اندازه زکوة ساقطيږي ولې چې دزکوة تعلق له عين مال سره دى دمالک له ذمې سره نه دى نوکله چې مال نه شوپاته نوواجب مقدارهم نه پاته کيږي لهذازکوة ساقطيږي.

ف:مګرشرط دادی چې مال به پخپله هلاک شوی وي دمالک په تعدی سره به نه وي هلاک شوی یعنی دمال دهلاکت سبب مالک نه وي که نه نو زکوة نه ساقطیږي په دي شرط چې دکال پوره کیدوڅخه وروسته له مالک څخه تعدی وشي ولی چې له وجوب زکوة وروسته دزکوة مال دمالک په لاس کې امانت دی او په تعدی سره دامانت دهلاکولوپه صورت کې امین ضامن دی کمافی الدرالمختار:(بخلاف المستهلک)بعدالحول لوجودالتعدی.قال ابن عابدین:(قوله لوجودالتعدی)علة لقوله بخلاف المستهلک فانه بمعنی تجب فیه الزکوة (الدرالمختارمع الشامیة:۲/۲۳)

الالغاز:ای مال وجبت فیه زکوته ثم سقطت بعدالحول ولم یهلک؟

فقل:الموهوب اذارجع الواهب فیه بعدالحول.ولازکوة علی الواهب ایضا.(الاشباه والنظائر)

(۳۵)اوکه دچاپه ذمه دکوم عمروالاخاروی لازم شواوهغه له ده سره موجودنه وو نومالک دي له هغه څخه اعلی ورکړي بزیادت دي واخلي یادي له هغه څخه ادنی ورکړي بزیادت دي هم ورکړي اویادي دواجب شوی څاروی قیمت ورکړي، مثلاکه دچاپرذمه مسن واجب شومګرله ده سره مسن نه وو البته حقه موجودده وه نوعامل(دحکومت له طرفه دزکوة راټولونکی ته عامل ویل کیږي)ته په کاردي چې هغه اعلی یعنی حقه واخلي اودبنت لبون څخه زیات قیمت واپس کړي مثلاًدبنت لبون قیمت زر روپی دی اودحقې قیمت پنځلس سوه روپی دی نوعامل دي حقه واخلي اوپنځه سوه روپی دي رب المال ته بیرته ورکړي ،یادي عامل دادنی درجې څاروی واخلي بزیاتوب دي دقیمت په اعتبارسره واخلي مثلا پریوچاحقه واجبه شوه مګرله ده سره حقه نه وه البته بنت لبون وو اودبنت لبون قیمت زرروپی وو دحقې قیمت پنځلس سوه روپی وو نوعامل دي بنت لبون واخلي اوله رب المال څخه دي پنځه سوه روپی زیاتې واخلي .

(۳۶)قوله اودفع القیمة ای دفع قیمة ماوجب علیه ،یعنی که دچاپرذمه کوم څاروی واجب وو اوده دهغه څاروی پرځای دڅاروی قیمت په زکوة کې ورکړنوزموږپرمذهب داجائز دی ولی چې الله تعالی ټول مخلوق ته درزق درسولووعده کړي ده اودفقیرانورزق دمالدارانودمال څلویشتمه برخه ده اودارزق په پیسو.غوااواوبن کې منحصرنه دی بلکه دانسان نورهم ډیرحاجتونه دي کوم چې په دي څارویوسره نشي پوره کولای په دي وجه دڅاروی قیدلګول باطل دی بلکه دده قیمت ورکول شونوهم جائز دی .همداحکم دعشر،خراج ،صدقة الفطر ،نذراوکفاراتوهم دی .

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزددڅاروی قیمت ورکول جائزنه دی هغه یې دقربانی په څاروی قیاسوي اوغیرمنصوص ناجائز ګڼي ،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې دقربانی په څاروی قیاس کول صحیح نه دي ولی چې په قربانی کې قربت له اراقت دم سره متعلق دی اوهغه غیرمعقول دی حال داچې په زکوة کې دڅاروی دقیمت په اداء کولوسره مقصوددفقیرحاجت ختمول دي کوم چې معقول دی اومعقول په غیرمعقول قیاسول صحیح نه دي .

(۳۷)یعنی مصدق(زکوة وصول کونکی)دي له صاحب المال څخه نه داعلی درجې مال اخلي اونه دي کمزوری اوخراب مال اخلي بلکه ددمنځنې درجې مال دي اخلي ولی چې نبی کریم ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه ته فرمایلي وو﴿ ایاک وکرائم اموالهم﴾(خبرداراوخلګوله مالونوڅخه ښه مال مه اخله)، همداشان

واوسط درجې مال په اخيستلو کې دصاحب المال او فقير دواړورعايت دی په دي وجه چې دښه مال اخيستلوپه صورت کې دصاحب المال نقصان دی او دخراب مال اخيستلوپه صورت کې دفقير ضرردی.

(۳۸)يعنی که له يو چاسره دکوم مال يونصاب وي مثلاً څلويښت پسونه وي بيادکال په منځ کې څه نورمال حاصل شو نوداماله به يادمخکنی نصاب يعنی پسونوله جنس څخه وي او يا به نه وي ،په اول صورت کې به حاصل شوی مال له سابقه نصاب سره يوځای کيږي اوداصل نصاب حولان حول به دمال مستفادحولان حول شمارل کيږي لهذا په دي مستفادمال کې به بغيرله کامل کال تيريدلوزکوة واجب وي ولی چې که دکال په منځ کې دهرحاصل شوی مال لپاره دنوی حولان حول شرط ولګول شي نودابه انتهائی سخت کاروي دکوم له وجه به چې مالک په مصيبت کې مبتلاء شي لهذا که مستفادمال داصل له جنس څخه وونوداصل نصاب حولان حول دمال مستفادحولان حول په شمارلو کې دمالک لپاره اساني ده اوکه مال مستفادداصل نصاب له جنس څخه نه وونودده لپاره دمستقل حولان حول شمارل مشکل نه دي لهذا په دوهم صورت کې به حاصل شوی مال دسابقه نصاب سره نه ضم کيږي بلکه پرده به له سره دحولان حول اعتبارکيږي.

(۳۹)وَلَوْ أَخَذَ الْخَرَاجَ وَالْعُشْرَ وَالزَّكَاةَ بُغَاةٌ لَمْ تُؤْخَذْ أُخْرَى(۴۰)وَلَوْ عَجَّلَ ذُو نِصَابٍ لِسِنِينَ(۴۱)أَوْ لِنُصُبٍ صَحَّ

ترجمه:اوکه واخستی خراج ،عشراوزکوة باغيانونودوهم ځل به نه اخيستل کيږي،اوکه وړاندي ورکړکوم صاحب نصاب دڅوکالوزکوة ،يادڅونصابونوزکوة نوداصحيح دی.

تشريح:(۳۹)که له چاڅخه خراج ،عشريازکوة باغيانووصول کړنودوهم ځل به له مالک څخه نه اخيستل کيږي ولی چې امام دده دمال حفاظت نه دی کړی ولی چې دامام دکوتاهی له وجه پرده بغات قابض شول حال داچې دامام له رعاياڅخه دعشروغيره اخيستل دذوئ داموالو دحفاظت له وجه دی.هوکه مالک عشری مال دباغيانوپه علاقه تيرکړاوباغيانوله ده څخه عشرواخيست نواوس به له ده څخه دوهم ځل عشراخيستل کيږي ولی چې په دي صورت کې کوتاهی دمالک له طرفه ده دامام المسلمين له طرفه نه ده.

ف:دبعضوحضراتورأيه داده چې باغيانوته دزکوة ورکولوپه وخت کې که مالک دزکوة نيت وکړنوزکوة اداءکيږي ولی چې له باغيانوسره که په صحيح معنی سره حساب وشي نوهغوئ به فقيران ثابت شي مګرداکثرومشائخو فتوی داده چې فيمابينهم وبين الله له خراج څخه ماسوادنوروااعاده دي وکړي ولی چې باغيان دخراج مصرف دي مګردزکوة مصرف نه دي کمافی الشامية :قال فی الهداية والفوابان يعيدوهادون الخراج لکن هذافيمااخذه البغاة لتعليلهم بان البغاة لاياخذون بطريق الصدقة بل بطريق الاستحلال فلايصرفونهاالی مصارفهاذکرفی المعراج ان السلطان الجائرکالبغاة لانه لايصرفه الی مصارفه وفی الهداية انه الاحوط (ردالمحتار:۲/۲۶)،بغاة دباغی جمع ده باغی هغه ته ويل کيږي کوم چې دامام المسلمين له اطاعت څخه انکاروکړي اوپه کوم ښارقبضه وکړي.

دحكومتي ټيكس اوزكوة په منځ كې فرق

ف: حكومت ته دوركونكى ټيكس اوزكوة ترمنځ لوى بنيادي او اساسي فرق دى ،زكوة يوعبادت دى په دې وجه په ده كې نيت او اراده ضروري ده ،اخلاص اوخداترسى (له خدايه ويره) په كې مطلوبه ده ،دده لپاره متعين مصارف دي په هغوئ باندي مصرفيږي، په غيرمسلمانانو او خيريه كارونوكې دده استعمال جائزنه دى دده يومقدار او تناسب متعين دى دواجيدلولپاره دمال يوحدمقرردى ....ددي برخلاف ټيكس عبادت نه دى لكه دحكومت اعانت يا له هغه ځخه درسيدونكي فائدي معاوضه ده نه دده لپاره كوم متعين تناسب او مقدارشته نه دكوم مال تعين ،نه دده لپاره دنيت او ارادي څه سوال شته اونه دده مصارف هغه دي كوم چې دزكوة مصارف وو ،په دي وجه په ټيكس اداء كولوسره زكوة نه اداء كيږي. (جديدفقهى مسائل ۱/۲۲۱:)

(۴۰)كه كوم صاحب نصاب كس دڅوكالونوزكوة پيشگى (يعنى وړاندى)وركړي نوداصحيح ده دامام مالک صاحب رحمه الله په نزدجائزنه ده ولى چې پرمال كال تيريدل شرط دي اودمشروط پرشرط مقدم كول جائزنه دي ،زموږدليل دادى چې ده له سبب وجوب يعنى نصاب څخه وروسته زكوة اداء كړى دى اوله سبب وجوب څخه وروسته دزكوة اداء كول جائزدى داپه دي شان ده لكه چې يوڅوك يومسلمان په داسې ډول سره زخمي كړي چې دهغه دژوندانه اميدپاته نشي نودى دكفاري په ډول سره دمجروح له مړه كيدلوڅخه وړاندي يوغلام ازادكړي نوداجائزدى ولى چې دقتل سبب موجوددى ..

(۴۱)قوله اولنصب صح اى لوعجل صاحب نصاب لنصب متعددة صح ،يعنى كه دچاپه ملک كې يونصاب وي او ده پيشگى دڅونصابونوزكوة اداء كړنوزموږپه نزدداجائزدى حال داچې دامام زفر رحمه الله په نزدجائزنه دى دده دليل دادى چې هرنصاب دزكوة په حق كې اصل بذاته دى نودزكوة داداء كولوپه وخت كې ځرنگه چې نصاب ثانى وثالث وغيره موجودنه دي لهذااداقبل السبب اداء ده كومه چې جائزنه ده ، زموږدليل دادى چې په سبب والى كې نصاب اول اصل دى له دي ماسوانورنصابونه دهغه تابع دي او داصل په موجودوالى سره تابع هم موجودشمارل كيږي نوديوه نصاب په موجودوالى سره ويل كيداى شي چې نورنصابونه هم موجوددي لهذااداقبل السبب اداء نه ده په دي وجه صحيح ده .

ف: دڅوكالونويا څونصابونوزكوة اداء كول هغه وخت صحيح دي چې مالک لږترلږه ديوه نصاب مالک وي كه هغه ديوه كامل نصاب مالک هم نه وو نوبيادڅوكالونويا څونصابونوزكوة اداء كول صحيح نه دي ولى چې داقبل السبب ادائيگي ده نوداداسې شوه لكه له وخت څخه وړاندي لمونځ اداء كول كمافى الشامية: (قوله ولوعجل ذونصاب) قيدبكونه ذانصاب لانه لوملک اقل منه فعجل خمسة عن مائتين ثم تم الحول على مائتين لايجوز (ردالمحتار: ۲/۲۹)

باب زكاة المال

داباب دمال دزكوة په بيان كې دى

له مال څخه دلته له څارويو څخه ماسوانور مالونه مراددي ولی چې دڅارويو حکم خوله دي څخه وړاندي بيان شو،په المال باندي الف لام عهدی دی معهودمال هغه دی دکوم ذکرچې دنبی کريم ﷺ په ارشاد، هاتوابع عشراموالکم کې شوی دی، بياپه دي باب کې دنقدينوحکم له نورومالونوڅخه په دي وجه مخته ذکرکړچې نقدين دنورومالونودقيمت په معرفت کې اصل دي ،هسې خودمال اطلاق په هرهغه کورنی ياتجارتي سامان ،ياځمکې اوجايداد.څارويويانغدي سرمايې باندي کيږي کوم چې ديوه فرديا جماعت په ملکيت کې وي ،مگرپه عرف کې دمال اطلاق پرنقدی کيږي .

(۴۲)يجب في مائتي درهم وعشرين دينارا ربع العشر (۴۳)ولوتبرا او حليا او آنية (۴۴)ثم في كل خمس بحسابه (۴۵)والمعتبر وزنهما اداء ووجوبا

ترجمه :واجب دی په دوه سوه درهمه اوشلو ديناروکې څلويښتمه حصه ،که څه هم ټوټې وي يازيور (گينه) يالوښې وي ،بيادنصاب په هره پنځمه حصه کې په همدي حساب سره دي ،اومعتبردی ددوئ دواړووزن داداء په اعتبارسره اودوجوب په اعتبارسره .

تشريح :(۴۲)که دچاپه ملک کې پوره دوه سوه درهمه راغلواوپه پرهغوکال هم تيرشونوپه دوئ کې څلويښتمه حصه يعنی پنځه درهمه واجب دي ،همداشان که دچاپه ملک کې شل ديناره راغلواوپردوئ کال تيرشونوپه دوئ کې څلويښتمه برخه يعنی نيمايې ديناروا جب دي په دي وجه چې نبی کريم ﷺ حضرت معاذ ؓ ته ليکلي وو چې په هردووسوو درهموکې پنځه درهمه اخله اوپه هرو شلو دينارنو کې نصف مثقال اخله (مثقال څلورماشې اوڅلوررتی وي).

ف:له دووسوو درهمو څخه په کموکې زکوة نشته لقوله ﷺ ليس فی مادون خمس اواق صدقة (يعنی له پنځو اوقيو څخه په کموکې زکوة نشته)اويوه اوقيه څلويښت درهمه وي نوپنځه اوقيې دوه سوه درهمه کيږي لهذا له دوو سوو درهمو څخه په کموکې زکوة واجب نه دی ،اودسروزرونصاب شل ديناره دی له شلو دينارونو څخه په کموکې زکوة واجب نه دی ﴿لقوله ﷺ ليس في أَقَلَّ من عِشْرِينَ دِينَارًا صَدَقَةٌ﴾(له شلو دينارونو څخه په لږوکې زکوة نشته).

(۴۳)قوله ولوتبرا اوحليا ای يجب ربع العشرولوكان مقدارمائتی درهم اومقدارعشرين ديناراتبرا اوحليا ،زموږ په نزد په غيروهل شوي دسروزرواوسپينوزروپه ټوټوکې اودهغوئ څخه په جوړشويوزيوراتواولوښوکې زکوة واجب دی ولی چې دزکوة دواجب والی سبب مال نامی (زياتيدونکی مال)دی اونماپردوه قسمه ده يوه خلقی (يعنی پيدائشي)لکه په سرو اوسپنوزروکې چې ده،اوبله فعلی کومه چې دتجارت په ذريعه سره پيداکيږي ،په سرواوسپينوزروکې دنمادليل موجوددی يعنی په خلقی اوپيدائشي ډول سره دسرو اوسپينو زرودتجارة لپاره تياروالی دی اودليل معتبردی نوکله چې دنمادليل موجود شونودامال نامی دی لهذاپه دي کې زکوة واجب دی .

ف: دامام شافعی رحمه الله په نزددښځينوپه گاڼو اودنارينه و دسپينوزروپه گوتمی کې زکوة واجب دی ولی چې دکوم شي استعمال چې مباح وي اوهغه په عام ډول سره استعماليږي هم اونامی نه وي نوپه دي کې دروزمره داستعمال دجامو په شان زکوة واجب نه دی ،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې سره

اوسپين زرچې په كوم شكل كې هم وي په دوئ كې خلقي نماموجوده ده كمامرلهذادوئ داستعمال په جاموباندي قياسول صحيح نه دي ولى چې داستعمال په جاموكې هيڅ قسم نماهم نشته .

ف:ښځې ته چې دپلاردكورنى له طرفه كوم زيوروركړل شوى وي دهغه زكوة په پخپله پرښځې فرض ده اوكوم چې دخسركنى له طرفه وركړل شوي وي كه هغه دښځې په ملكيت كې وركړل شوي وو نوپرښځه فرض دى كه نه نو دهغې په خاوند .(فتاوى عثمانى:۲/۴۲)

ف:كه له كومې ښځې سره دومره زيورات وو چې كه هغه خرڅ كړي نوحج ورباندي فرض كيږي ليكن له هغې سره نغدي بالكل نه وي نوپرداسې ښځه باندي حج ،زكوة ،اوقربانى فرض ده كه نغدي روپى نه وي نوپريوچادي زيورخرڅ كړي اوپه هغوروپودي دافرائض اداء كړي .(فتاوى عثمانى:۲/۵۳)

(۴۴)قوله ثم فى كل خمس الخ خمس بضم الخاء دى دنصاب دپنځمې برخې په معنى ،ددووسوودرهمو پنځمه برخه څلويښت درهمه دي اودشلودينارونوپنځمه برخه څلوردیناره دي،يعني دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدچې كله دراهم له دوه سوه څخه زيات شي نوپه زيادت كې هيڅ هم نه دي واجب ترڅوچې دزيادت مقدارڅلويښتودرهموته ورسيږي نوبياپه دي كې ربع عشريعني څلويښتمه برخه واجبيږي ولى چې دنبى كريم ﷺ ارشاددى ليس فيمادون الاربعين صدقة (يعنى له څلويښتو درهموڅخه په لږوكې زكوة نشته)،همداراز په كسورو(يعنى دنصاب دمقدارونوپه منځ كې لكه له دوسوو څخه تردوو سووه څلويښتوپوري ،همداشان له هروڅلويښتوڅخه ترنوروڅلويښتوپوري)كې په زكوة واجبولوكې حرج دى اوحرج شرعاًمدفوع دى .

دصاحبينوپه نزدله څلويښتوڅخه په ليږزياتوالي كې هم زكوة شته نوكه په دوه سوه درهمه باندي يودرهم زيات شونوله پنځودرهموڅخه علاوه ديوه درهم له څلويښتوحصوڅخه يوه حصه بله هم واجب ده ،دصاحبينورحمهما الله دليل دادى چې زكوة دنعمت مال دشكرپه طورسره واجبيږي اوله دووسووڅخه لږهم مال دى لهذاپه هغه كې به هم دحساب مطابق زكوة واجب وي .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى كمافى الفقه الاسلامى وادلته :اماالزيادة على النصاب فلاشئ فيهاعندابى حنيفه رحمه الله حتى تبلغ اربعين درهمافيكون فيهادرهم ثم فى كل اربعين درهمادرهم ولاشئ فيمابينهما كذالك لا زكوة فى زيادة الدنانير حتى تبلغ اربعة دنانيروهذاهوالصحيح عندالحنفية لقوله ﷺ من كل اربعين درهمادرهم (فقه الاسلامى وادلته:۳/۱۸۲۳)

(۴۵)دسپينو،اوسروزرودزكوة په اداء كولواودهغه په واجبيدلوكې ددوئ ددواړودوزن اعتباردى نه دقيمت ،مثلاًكه دچاپرذمه پنځه درهمه واجب وي نوهغه څلوربنه آراسته شوي دكوموچې قيمت دپنځودرهمو برابروو اداء كړل نودده ذمه به فارغه نه وي بلكه يوبل درهم به هم اداء كوي ولى چې اعتباردوزن دى دقيمت اعتبارنشته ،همداشان كه له چاسره سپين زرتردوپنځوس نيموتولوڅخه لږوي مګرله هغوڅخه دلوښويادزيور دجوړولو وجه دهغوقيمت ددوپنځوس نيموتولو برابروي نوپرده زكوة واجب نه دي ولى چې دوزن اعتباردى نه دقيمت اووزن دلته دنصاب برابرنه دى .

دسپینوزرونصاب دګرام په اعتبارسره

ف: دموجوده اوزانو په لحاظ سره یوه توله د ۱۱.۶۶۴ګرامو سره برابره ده همداشان دد وپنځوس نیموتولووزن له ۶۱۲ګرامو او ۳۶۰ملی ګرامو سره مساوي دی،نن صباد ۱۲ماشې (برابر۱۱.۶۶۴ ګرامو)په ځای د۱۰ګرامو توله مروجه ده په دي وجه ددي اصطلاح په اعتبارسره ۶۱تولې ۶۱۲ګرامه او ۳۶۰ ملی ګرامه دسپینوزرونصاب دی ،همداشان دسروزرو نصاب په دي حساب سره ۸۷.۴۸۰ګرامه دی کوم چې د۱۰ګرامو دتولې په لحاظ سره ۸تولې ۷ګرامه او ۴۸۰ملي ګرامه کیږي. (جدید فقهی مسائل:۱/۲۰۲)

(۴۶)وفي الدَّرَاهِمِ وَزْنُ سَبْعَةٍ وهو أَنْ تَكُونَ العَشَرَةُ منها وَزْنَ سَبْعَةِ مَثَاقِيلَ (۴۷)وَغَالِبُ الْوَرِقِ وَرِقٌ لَاعَكْسُهُ (۴۸)وفي عُرُوضٍ تِجَارَةٍ بَلَغَتْ نِصَابَ وَرِقٍ أَو ذَهَبٍ (۴۹)وَنُقْصَانُ النِّصَابِ في الْحَوْلِ لَا يَضُرُّ إنْ كَمُلَ في طَرَفَيْهِ (۵۰)وَتُضَمُّ قِيمَةُ الْعُرُوضِ إلَى الثَّمَنَيْنِ (۵۱)وَالذَّهَبُ إلَى الْفِضَّةِ قِيمَةً

ترجمه: اوپه دراهمو کې وزن سبعه متعبردی اوهغه دادی چې په دراهمو کې لس درهمه داومثقالو سره برابروي ،اوپه کومو کې چې سپین زرغالب وي هغه سپین زردي نه ددي عکس ،اوپه اسبابو دتجارت کې واجب دی کله چې هغه ورسیږي دسپینو یاسروزرو نصاب ته ،اونقصان نصاب دکال په منځ کې مضرنه دی که کامل وو په دواړو طرفونو کې ،اویوځای کیږي به داسبابو قیمت له ثمنینو سره ،اوسره زرله سپینوزرو سره دقیمت په اعتبارسره .

تشریح: (۴۶)قوله وفي الدارهم وزن سبعة ای المعتبر في الدارهم وزن سبعة ،یعنی په دراهمو کې وزن سبعه معتبردی یعنی ددراهمو په وزن کې هغه وزن معتبردی کوم چې لس درهم داوودینارو سره مساوي وي ،اصلاً په ابتداء اسلام کې دري مختلف قسمه دراهم چلیدل یوهغه کوم چې له دینارسره مساوي وو یعنی لس درهم له لسو دینارو سره برابروو ،دوهم هغه کوم چې لس درهم له شپږو دینارو سره مساوي وو ،دریم هغه کوم چې لس درهم له پنځو دینارو سره مساوي وو ،خلګو په دي دریو سره وزنو سره معاملې کولې ترڅو چې حضرت عمر ؓ خلیفه شو اوهغه وغوښتل چې خراج اوکوة په وزن عشره سره وصول کړي خلګو په دي کې دتخفیف غوښتنه وکړه حضرت عمر ؓ دهغې زمانې دحساب ماهرین راجمع کړل ترڅو هغوئ ددي دریو وزنو په مخته اینبودلو سره یومنځنی وزن متعین کړي نو هغه ددریو سره اوزانو مثاقیل سره یوځای کړل نو هغه یوویشت شول بیایې دهغو ثلث راوخیست په دي ډول سره چې اوزان څرنګه چې دري وونو یوویشت مثاقیل چې کله په هغوئ تقسیم کړل نو هریوه ته اوه مثقاله ورسیدل یعنی درمیانه وزن داجوړشو چې لس درهمه داوو مثقالو سره برابروي، همدي ته وزن سبعه ویل کیږي په کوم چې دصحابه کرامو ؓ اجماع ده .

ف: مثقال اودینار دوزن په اعتبارسره یوشی دي،مثقال شل قیراطه وي اودرهم دڅوارلسو قیراطو مساوي وي ،اودیوه قیراط وزن پنځه اوربشې دی ،په دي ډول سره ددینارو وزن سل اوربشې اوددرهم وزن له اویا اوربشو سره برابردی کمافي الدرالمختار: والدينار عشرون قيراطاوالدرهم اربعة عشرقيراطاوالقيراط خمس شعيرات فيكون الدرهم الشرعي سبعين شعيرة والمثقال مائة شعيرة فهو درهم وثلاث اسباع درهم، قال ابن عابدين ؒ: (قوله والدينار)..........حاصله ان الدينار اسم للقطعة من الذهب المضروبة المقدرة بالمثقال فاتحادهما من حيث الوزن (الدرالمختارمع الشامية: ۲/۳۱)

ف: ورق دواوپه فتحه اودراء په كسره سره آراسته شوې سكې ته ويل كيږي، اوغش دغين په كسره اودشين په تشديد سره كوټ يعنى له سرواوسپينوزورو ماسوا بل معدنى شي ته ويل كيږي، دابايد په ياد وساتل شي چې دسپينوزرو يا سروزروسكه دكوټ له ګډولوڅخه بغيرنه جوړيږي په دي وجه دسپينواوسروزروپه سكوكې دكوټو ګډول ضروري دي.

(۴۷)اوس صورت مسئله دادى چې په اراسته شوي سكه كې كه سپين زرغالب وو اوكوټ مغلوب وو نو هغه سكه دسپينوزروپه حكم كې ده اعتبارا للغالب اوپه دي كې دسپينوزروزكوة واجب دى اوكه كوټ غالب وو اوسپين زرمغلوب وو نوداسكې دسامان په حكم كې دي اعتبارا للغالب نوكه دتجارت نيت وو اوددوئ قيمت نصاب ته رسيدونوپه دوئ كې به دنوروعروض تجارت په شان زكوة واجب وي، دداسې سروزروهم همدا حكم دى چې په هغوكې كوټ ګډشوي وي.

(۴۸)قوله ولى عروض لتجارة بلغت نصاب ورق اوذهب اى يجب ربع العشرفى عروض لتجارة بلغت نصاب ورق اوذهب، عروض دعرض جمع ده له سپينواوسروزروڅخه ماسوا نورسامان ته ويل كيږي دعروضو دزكوة بيان يې له نقدينوڅخه مؤخركړڅكه چې نقدين اصل دي ولى چې په نقدينوسره ددوئ په قيمت كولوددوئ نصاب معلوميږي. يعنى دتجارة سامان خواه كه هرقسم وي په هغه كې ربع عشريعنى څلويښتمه حصه زكوة واجب دى په دي شرط چې دهغه قيمت دسپينوياسروزرونصاب ته رسيږي اومالك په هغه كې دتجارت نيت كړى وي لقول ابن عمر ﷺ قال ليس فى العروض زكوة الااذاكان للتجارة (يعنى په عروضوكې زكوة نشته الاداچې دتجارت لپاره وي).

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدبه دسامان تجارت دقيمت اندازه په سرواوسپينوزروكې په هغه سره لګول كيږي په كوم كې چې دفقراء اومساكينونفع وى مثلاً دتجارت څه سامان دى دكوم قيمت چې دوه سوه درهموته رسيږي مګرشل مثقاله ته نه رسيږي نوداد ي په دراهموسره اندازه كړي اوكه ددي عكس وو چې ددي سامان قيمت شل مثقاله سروزروته رسيدومګر ددووسوو درهموماليت ته نه رسيدونودده دقيمت اندازه دي په سروزروسره ولګول شي نه په سپينوزروسره، امام ابوحنيفه رحمه الله داقول دفقراء درعايت له وجهې كړى دى.

ف: امام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې عروض يې په كوم شي سره اخيستي وي په هغه شي سره دي قيمت كوي اوكه يې په روپونه وو اخيستي نوبيادي په هغه نقدى سره قيمت كړي دكوم چې په هغه ښاركې رواج زيات وي، امام محمد رحمه الله فرمايي چې په هرحال دي په هغه سره قيمت كړي دكوم چې په هغه ښاركې راج زيات وي، دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجع دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد: وظاهرالهداية الاختلاف بين الاقوال المذكورة وليس كذالك بل هومخيرفى التقويم بماشاء من الدراهم والدنانيروالنقدالغالب وبالذى اشتراه به لكن ويراعى الانفع منها على كل حال فان كان المال لايبلغ نصابا الابالدراهم ولابالدنانيرويبلغ بالنصاب بالذى اشتراه اوبنقدالغالب فالتقديربماهوالانفع (هامش الهداية ۱/۱۷۸:)

(۴۹)يعنى كه له چاسره دكال په شروع كې هم پوره نصاب موجودوي اودكال په اخركې هم پوره نصاب موجودوي البته دكال په منځ كې مال له مقدارنصاب كم شوى وي نوپه دي صورت كې زكوة واجب

دی ساقط نه دی ولی چې د کال په منځ کې دنصاب دپوره والی په اعتبار کولو کې مشقت دی ولی چې مالک په خپل مال کې تصرف کوي دکوم له وجه چې مال کله کمیږي اوکله زیاتیږي ځکه نو دکال په مابین کې دنصاب دپاته کیدلو شرط نه ده لګول شوی.

ف: البته که دکال په مابین کې ټول نصاب هلاک شوی وو نو زکوة واجب نه دی ځکه چې دکال په یوه حصه کې نصاب بالکلیه نه وو نو دحولان حول شرط نه شو پرځای حال داچې دزکوة دوجوب لپاره حولان حول شرط دی کماقال ابن عابدین: (قوله فلوهلک کله)ای فی اثناء الحول بطل الحول حتی لواستفادفیه غیره استانف له حولاجدیدا(ردالمحتار:۲/۳٦)

(۵۰)یعنی که له یوچاسره سامان تجارت بقدرنصاب نه وي البته له ده سره څه سره یاسپین زروي نودسامان تجارت قیمت به له دي سپینو یاسروزروسره یوځای کړي اونصاب به پوره کړي ،همدا شان که مختلف الجنس سامان تجارت وي نوهم دتکمیل نصاب لپاره به دبعضو قیمت له بعضوسره یوځای کړي ولی چې په هرشي کې دوجوب زکوة سبب دنصاب نامی والی دی اونماء په هرقسم سامان تجارت کې هم شته اوپه سپینو اوسروزروکې هم شته لهذادسامان تجارت قیمت به له سپینو اوسرو زروسره په یوځای کولو سره زکوة واجب وي.

(۵۱)قوله والذهب الی الفضة قیمة ای ویضم الذهب الی الفضة قیمة ،یعنی که له یوچاسره نه دسروزرو پوره نصاب وي اونه دسپینوزرو البته له دواړوڅخه دهریوه ترنصاب لږموجودوي نوکه ددواړو په یوځای کولو سره یونصاب جوړیدونو په دي صورت کې زموږ په نزد ددواړو په یوځای کولو سره زکوة واجب دی ولی چې په سپینو اوسروزروکې که څه هم دذات په اعتبارسره اتحادنشته مګردوصف ثمنیت په اعتبارسره دواړه متحددي اوهمدا وصف ثمنیت دوجوب زکوة سبب دی نودااتحادوصف له کبله به یوله هغه بل سره یوځای کیږي.

ف: بیاداامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدبه نقدین دقیمت په اعتبارسره یوله هغه بل سره یوځای کوي. اودصاحبینو رحمهما الله په نزدبه داجزاء په اعتبارسره ضمیږي ،ثمره اختلاف یې په دي مثال سره ښکاریږي چې له یوچاسره سل درهمه سپین زردي، پنځه مثقاله سره زردي اودپنځو مثقالوسروزور قیمت سل درهمه ته رسیږي نوددواړو په قیمت کولوسره ګواکي له دي کس سره دوه سوه درهمه دي نوباعتبار قیمت دنصاب دپوره کیدلو په وجه سره دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدپرده زکوة واجب دی،مګر داجزاءوپه اعتبارسره ځرنګه چې نصاب پوره نه دی ولی چې دسپینوزرونصف نصاب اودسروزرو ربع نصاب دی دواړو په یوځای کولوسره پاوکم یونصاب جوړیږي لهذادصاحبینو رحمهما الله په نزدزکوة واجب نه دی ،اوکه چاسره لس مثقاله سره زراوسل درهمه سپین زروي اودلس مثقالوسروزروقیمت له سل درهمه سره برابروي نوبالاتفاق پر ده زکوة واجب دی ولی چې په دي صورت کې دقیمت په اعتبارسره هم نصاب پوره دی اوداجزاوپه اعتبارسره هم پوره دی.

ف: دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی لیکن دصاحبینوقول ارفق بالناس دی لهذاپه نني زمانه کې دصاحبینوپه قول باید فتوا ورکړل شي خاص کرداضحیه په مسئله کې دښځوپه حق کې دصاحبینوپه قول په

فتوا ورکول کې ډیر سهولت دی کما فی القول الراجح: والفتوی علی قوله موافق لاصول الافتاء لان الاصل فی العبادات الفتوی علی قول ابی حنیفة لکن قولهما ارفق للناس لان علی قول ابی حنیفة یصیر نصاب الذهب تابعا لقیمة الفضة مع ان القیمة تابع للذهب والفضة فی تعین النصاب وایضا فی صورة الذهب والعروض یکون النصاب تابعا للمعدوم وهو الفضة، واما علی قولهما فیکون القیمة تابعا للذهب والفضة ولا یکون الموجود تابعا للمعدوم وان قولهما ارفق بالناس فینبغی ان یفتی بقولهما فی هذا الزمان وخصوصا فی مسئلة الاضحیة ترفقا بالنساء لان اکثر النساء یوجد معهن شئ من الذهب وهو یساوی نصاب الفضة باعتبار القیمة وهن لا یستعدن لبیع الذهب ولشراء الاضحیة واذا کان الانضمام بالاجزاء فحینئذ یکون الحکم اسهل علیهن وقول الامام قول المتون. (القول الراجح: ۱/۱۷۴)

بَابُ الْعَاشِرِ

داباب دزکوة وصول کونکي په بیان کې دی

عاشر څرنګه چې له مسلمان څخه هم زکوة اخلي اوله غیرمسلم څخه هم، اوله مسلمان څخه اخیستې عشر بعینه زکوة دی په دې وجه ددې باب له باب زکوة سره یو قسم مناسبت شته مګر څرنګه چې له عاشر له غیرمسلمانانو څخه هم عشر اخلي اوله غیرمسلمانانو څخه اخیستې عشر زکوة او عبادت نه دی په دې وجه داله باب زکوة څخه مؤخر کړولی چې زکوة محض عبادت دی او په دې کې د غیر ګډوالی هم شته.

(۵۲) هُوَ مَنْ نَصَبَهُ الْإِمَامُ لِيَأْخُذَ الصَّدَقَاتِ مِنَ التُّجَّارِ (۵۳) فَمَنْ قَالَ لَمْ يَتِمَّ الْحَوْلُ أَوْ عَلَيَّ دَيْنٌ أَوْ أَدَّيْتُ أَنَا أَوْ إِلَى عَاشِرٍ آخَرَ وَحَلَفَ صُدِّقَ (۵۴) إِلَّا فِي السَّوَائِمِ فِي دَفْعِهِ بِنَفْسِهِ (۵۵) وَكُلُّ شَيْءٍ صُدِّقَ فِيهِ الْمُسْلِمُ صُدِّقَ فِيهِ الذِّمِّيُّ (۵۶) لَا الْحَرْبِيُّ إِلَّا فِي أُمِّ وَلَدِهِ

ترجمه: عاشر هغه دی کوم چې امام مقرر کړي تر څو چې له تجارانو څخه زکوة وصول کړي، نو کوم کس وویل چې تر اوسه کال نه دی پوره شوی یا پر ما قرض باندې دی یا ما پخپله اداء کړی دی یا مې بل عاشر ته ورکړی دی او قسم وکړي نو د هغه تصدیق به کول کیږي، مګر نه په څارویو کې د پخپله ورکولو په صورت کې، او په کوم کې چې د مسلمان تصدیق کول کیږي په هغه کې به د ذمی هم تصدیق کول کیږي، نه د حربی کافر مګر د ده دام ولد په باره کې.

تشریح: (۵۲) د حکومت له طرفه چې کوم کس په لارو باندې ددې لپاره مقررووي چې هغه د تجارانو حفاظت وکړي او له تجارانو څخه محصول وصول کړي هغه ته عاشر وویل کیږي هسې خو د عاشر معنی ده لسمه حصه وصول کونکی مګر دلته له عاشر څخه مراد هغه شخص دی کوم چې محصولات وصول کوي هغه له مختلف تجارانو څخه مختلف مقدار وصول کوي له چا څخه (له مسلمان څخه) د عشر څلورمه. له چا څخه (له ذمی څخه) د عشر نصف اوله چا څخه (له حربی کافر څخه) بیا مکمل عشر وصول کوي نو څرنګه چې په دې ټولو کې د عشر لحاظ شته په دې وجه ددې وصول کونکی ته عاشر وویل کیږي.

ف: د حکومت په واسطه سره په زکوة یا عشر اداء کولو کې څه حرج نشته لیکن د مروجه نظام زکوة د خامیانو په نظر کې لر لو سره دا اندازه لګول په هیچا هم مخفي نه ده چې عموما په اصل مصرف باندې زکوة نه مصرفیږي په دې وجه یې د وهم ځل اعاده کول بنه کاردی. (حقانیه: ۳/۵۶۹)

(۵۳) که کوم تاجر عاشر ته وویل چې زما پر دې مال باندې تر اوسه پوري کال نه دی پوره شوی ځکه نو پر دې مال زکوة نشته، یا یې وویل چې زه مقروض یم ځکه نو پر دې مال زکوة نشته نو تاجر ته به قسم ورکول

کیږي که ده قسم واخیستی نو دده تصدیق به کول کیږي او عاشربه له ده څخه زکوة نه وصول کوي ولی چې تاجرله وجوب زکوة څخه منکردی او قول دمنکرمع الیمین معتبروي ،همداشان که تاجرو ویل مابل عاشرته زکوة ورکړی دی حال دا چې په دي کال دوهم عاشرهم متعین وي نو بیابه هم دده قول مع الیمین معتبروي ولی چې ده دامانت په خپل محل کې دمصرفولودعوه وکړه او دداسې چا قول مع الیمین معتبروي.

ف:اوکه څوکاله وروسته دابنکاره شوه چې مزکی عاشرته درواغ ویلي وو نوله ده څخه به دتیرشوو کالونو زکوة اخیستل کیږي کمافی الدرالمختار:ولوظهر کذبه بعدسنین اخذت منه ،وقال ابن عابدین:(قوله اخذت منه)لان حق الاخذثابت فلایسقط بالیمین الکاذبة.(الدرمع الشامیة:۲/۴۳)

ف:همداشان که تاجرو ویل چې ماپه ښارکې فقیرته زکوة ورکړی دی لهذا زماپرمال زکوة نشته نو هم به دده قول مع الیمین معتبروي ولی چې په ښارکې مالک نصاب ته ددراهمواودنانیروغیره دزکوة اداء کولوولایت حاصل دی کمافی الدرالمختار:(او)قال (ادیت الی الفقراء فی المصر وحلف صدق)فی الکل بلااخراج براءة فی الاصح ،قال ابن عابدین:(قوله اوقال ادیت الی الفقراء فی المصر)لان الاداء مفوضا الیه فیه(الدرالمختار مع الشامیة:۲/۴۳)

ف:په دي دورکې دبعضومصالحوپه بنیادحکومتونه دځینوشیانوله باهرڅخه په راوړلویاباهرته په وړلوپابندي لګوي مګرڅه خلګ په پټه سره ممنوعه شیان وړي راوړي کوم ته چې سمګلنګ ویل کیږي،دسمګلنګ(ګریزي)حکم دادی چې که حلال مال وونوپه شرعی اعتبارسره جائزدی لیکن څرنګه چې حکومت پرې پابندي لګولي ده ددي پابندي دخلاف ورزی په صورت کې دډیروګناهونوارتکاب ته ضرورت پیشیږي مثلا اکثردرواغوویلوته ضرورت پیشیږي ،رشوت ته ضرورت پیشیږي ،یاعزت او ابروپه خطره کې اچول کیږي دکوم دحفاظت چې په شریعت کې ډیرخیال ساتلی شوی دی اوډیر وختونه دقیداوبنددسختیوبرداشتولوضرورت پیشیږي په دي وجه دحکومت دقانون پابندي کول په کاردي اوله داسې کاربارڅخه ځان ساتل په کاردي خوبیاهم په اسمګل (ګریزي)طریقه سره راغلي حلال اومباح شیانوخرڅول او اخیستل جائزدي اوهغه استعمال جائزدي اوګټه یې هم حلاله ده. (جدید معاملات کی شرعی احکام:۱/۱۰۵)

(۵۴)قوله الافی السوائم فی دفعه بنفسه ای لایصدق فی السوائم فی دفعه بنفسه ،یعنی که دڅارویو مالک وویل چې ماد څارویو زکوة په ښارکې فقیرانوته ورکړنو په دي صورت کې به دهغه تصدیق نه کول کیږي .امام شافعی ﷫ فرمایي چې څرنګه چې حق مستحق ته رسول شوی دی لهذا دده تصدیق به هم کول کیږي .زموږدلیل دادی چې دڅارویوزکوة وصول کول دامام المسلمین حق دی لقوله تعالی ﴿ خذمن اموالهم صدقة ﴾ واخله ددوئ له مالونوڅخه صدقه)نومالک لره دده دحق دباطلولوحق نشته.

(۵۵)په کوموصورتونوکې چې دمسلمان دقول اعتبارکیده په هغوصورتونوکې به دذمی دقول اعتبارهم کیږي ولی چې ذمی په دارالاسلام کې دمعاملاتوپه باره کې دمسلمانانوپه شان دی البته که هغه دادعوه کوله چې ماجزیه په ښارکې پخپله ذمی فقیرانوته اداءکړه نو دده تصدیق به نه کیږي ولی چې ذمی فقیران دجزیې مصرف نه دي.

(۵۶)قوله لاالحربی الاقی ام ولده ای لایصدق الحربیّ فی شیٔ مماذکر الاقی امّ ولدله قال هذه ام ولدی فانه یصدق ، یعنی په پورته ذکرشويو صورتونو کښې به دحربی تصديق نه کيږي ولی چې له ده څخه چې اخيستل کيږي هغه دسلطان له طرفه دده دمال دحفاظت په خاطر اخيستل کيږي او دده په لاس کښې چې څه دي هغه دحفاظت محتاج هم دي لهذا حق حفاظت يعنی عشربه هم له ده څخه ضرور اخيستل کيږي اوداچې دی کوم عذر وړاندي کوي مثلا وايې چې زما پرمال باندي کال نه دی پوره شوی يازه مقروض يم نوددي اعتباربه نه کيږي ولی چې عاشرله ده څخه دده دمال دساتنی بدله اخلي دکوم لپاره چې حولان حول اوغيرمقروض والی ضروري نه دي ،هوکه له حربی سره مينځه وه اوده دعوه وکړه چې دازماام ولدده نودده تصديق به کيږي ځکه چې دده حربی والی له استيلادسره منافی نه ده نوکله چې موږدده تصديق وکړنوله مينځې څخه دماليت صفت ختم شواوعشرخوله مال څخه اخيستل کيږي لهذاپه دي مينځه کښې زکوة نشته .

(۵۷)وَأَخَذَ مِنَّا رُبُعَ الْعُشْرِ وَمِنَ الذِّمِّيِّ ضِعْفَهُ وَمِنَ الْحَرْبِيِّ الْعُشْرَ (۵۸)بِشَرْطِ نِصَابٍ وَأَخْذِهِمْ مِنَّا (۵۹)ولم يُثَنِّ فِي حَوْلٍ بِلَاعَوْدٍ (۶۰)وَعُشْرَ الْخَمْرِ لَا الْخِنْزِيرِ (۶۱)ومافي بَيْتِهِ وَالْبِضَاعَةَ (۶۲)وَمَالَ الْمُضَارَبَةِ وَكَسْبَ الْمَأْذُونِ (۶۳)وَثَنَّى إنْ عَشَرَ الْخَوَارِجُ

ترجمه:او اخلي به له موږ څخه څلويښتمه برخه اوله ذمي څخه ددي دوچنده اوله حربی څخه به لسمه حصه ،په دي شرط چې نصاب پوره وي اوهغوئ يې هم زموږ څخه وړي ،اودوهم ځل به نه اخيستل کيږي په کال کښې بې له راګرځيدلو ، اوعشربه اخلي دشرابو نه دخنزير ،اودهغه چې دده په کورکي وي او دبضاعت دمال ،اودمضاربة دمال اودغلام دګټې ،اودوهم ځل به عشراخيستل کيږي که خارجيانو عشرځيني اخيستی وو .

تشريح:(۵۷)عاشربه له موږ څخه (له مسلمانانو څخه)په زکوة کښې ربع عشريعنی څلويښتمه حصه اخلي اوله ذمی کافرڅخه ددي دوچنده يعنی شلمه حصه اخلي ،اوله حربی کافرڅخه به لسمه حصه اخلي ولی چې حضرت عمر ﷺ خپلو عاشرانوته دهمدي مقداردا خيستلو حکم فرمايلې وو .

ف:البته له حربی څخه به عشرهغه وخت اخيستل کيږي چې موږته معلوم نه وي چې په دارالحرب کښې زموږله تجارانو څخه څومره اندازه اخلي اوکه هغه مقدارکوم چې دوئ زموږ څخه اخلي معلوم وي نوموږبه هم له دوئ څخه هغه مقداراخلوکما فی شرح التنوير:(و)بشرط(جهلنا)قدر(مااخذومنافان علم اخذمثله)مجازاة الااذااخذواالکل.(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۴۵/۲)

(۵۸)قوله بشرط نصاب واخذه منااى اخذمن الحربی العشربشرط بلوغ ماله نصاباوبشرط اخذهم من تجارنا ،يعنی له حربی څخه به هغه وخت عشراخيستل کيږي چې نصاب پوره وي ولی چې لږمال دحفاظت محتاج نه دی ولی چې داکولږ مال نه وړي لهذاپه لږمال کښې به عشرهم نه وي ،اوداهم شرط ده چې په دارالحرب کښې به هغوئ زموږله تجارانو څخه مال ګذاری اخلي که نه نو له دوئ څخه به هم نه اخيستل کيږي ولی چې دښوا خلاقوموږډيرحقداريو ،اوکه هغوئ زموږله تجارانو څخه ټول مال اخيستونوموږبه له دوئ څخه ټول مال نه اخلوبلکه دومره مال به له ده سره پريږدوچې دده دسفرتوبنه شي .

(۵۹)اوله حربی څخه به په يوه کال کښې دوه ځله عشرنه وړل کيږي ولی چې له ده څخه دده دمال دحفاظت په خاطرموږ عشراخلونوکه هرځل دی په عاشرتيريدواوعاشرله ده څخه عشرواخلي نودمال ستيصال دی نه حفاظت لهذادکال په دننه کښې به دوهم ځل عشرنه اخيستل کيږي .البته که هغه دکال په منځ

کې دارالحرب ته ولاړي نوپه بيرته راتګ سره به له ده څخه عشراخيستل کيږي ولې چې دارالحرب ته په تلوسره دده مخکنی امان پای ته ورسيدی اوس دی له نوي امان سره راغلی دی نوددي جديد امان له وجه به له ده څخه دوهم ځل عشراخيستل کيږي .

(۶۰)قوله وعشرالخمرلاالخنزيراى يؤخذعشرالخمرولايعشرالخنزير ،يعنی که کافرسره له شرابوپه عاشر تيريده نوعاشربه له ده څخه دشرابوعشروصول کوي ولی چې عشردشرابودحفاظت له وجه اخيستل کيږي اومسلمان دخپلوشرابوڅخه دسرکې جوړلوپه نيت سره حفاظت کولی شي نودنورو دشرابو حفاظت هم کولی شي لهذابعوض حفاظت به له حربي څخه دشرابو عشراخلي ،اوکه کافرسره له خنزيره په عاشرتيريده نوعاشربه دخنزيرعشرنه اخلي ولی چې مسلمان دخپل خنزير حفاظت نشي کولی بلکه خنزيربه پريږدي نودنورودخنزيرانوحفاظت هم نه شي کولی نوچې حفاظت نشته نوعشربه دکوم شي وصول کوي .

(۶۱)قوله ومافي بيته والبضاعة اى لايعشر ايضامافي بيت المارمن المال ولايعشرالبضاعة ،يعنی که دچاپه کورکې مال وو کوم چې نصاب ته رسيدلی وو اوپرهغه کال هم پوره شوی وونوبيابه هم عاشرله ده څخه ددي مال عشرنه اخلي ولی چې عشربعوض حمايت اوحفاظت اخلي اوپه کورکې په موجودمال کې حمايت او حفاظت نشته لهذادهغ عشربه هم نه اخلي ،همدشان دمال بضاعت (مال بضاعت هغه دی چې مالک يوچاته روپی ورکړي اوهغه په دي کې تجارت کوي اونفع ټولودمالک وي)عشربه هم نه اخلي ولی چې دمالک له طرفه دي کس ته صرف دتجارت اجازت شته دزکوة ورکولواجازه نشته لهذادمالک له طرفه دنه اجازت له کبله به زکوة نه اداکيږي .

(۶۲)قوله ومال المضاربة وکسب الماذون اى ولايعشرمال المضاربة ولاکسب العبدالماذون له في التجارة .يعنی عاشربه له مضارب څخه دمال مضاربت (مضاربت دادی چې يوکس بل کس ته څه روپی ورکړي چې په دي تجارت وکړه کومه نفع چې حاصله شي هغه زموږدواړوپه مابين کې مشترکه وي ،اوتجارت کوونکی ته مضارب ويل کيږي)عشرهم نه اخلي ،له مال مضاربت څخه مرادرأس المال دی ولی چې مضارب نه درأس المال مالک دی اودزکوة په اداء کولوکې دمالک نائب دی لهذا مضارب لره زکوة اداء کول صحيح نه دي ،همداشان عاشربه دماذون غلام (هغه غلام کوم ته چې مولی دتجارت کولو اجازه ورکړي وي)له کسب څخه هم عشرنه اخلي ولی چې داشان غلام دمضارب په شان نه دمال مالک وي اونه دزکوة به اداء کولوکې دمالک نائب وي .

(۶۳)قوله وثنی ان عشرالخوارج اى ويؤخذالعشرثانياان عشرالخوارج ،يعنی که له يومسلمان تاجرڅخه دخوارجوعاشرعشر اخيستی وو بياداکس داهل حق په عاشرتيريدونوله دي تاجرڅخه به دوهم ځل زکوة اخيستل کيږي ولی چې داکوتاهی خپله دتاجرله طرفه شوي ده چې ده په هغه ځای کې له ځان سره مال وړی دی .

ف:له دي څخه وړاندي په زکوة السوائم کې ويل شوي وو چې که باغيانوله تاجرڅخه عشرواخيستی نوامام المسلمين به له ده څخه دوهم ځل عشرنه اخلي دلته دهغه برعکس ويل شوی دي چې دوهم ځل به عشراخلي

،په دواړو ځایونو کې فرق دادی چې په دې ځای کې کوتاهی دامام له طرفه نه ده بلکه پخپله دتاجرله طرفه ده
چې خپل مال یې دباغیانو علاقې ته وړی دی حال داچې په هغه مخکنی ځای کې کوتاهی دامام له طرفه وه
چې باغیانو ته یې دقبضه کولو موقع ورکړې وه په دې وجه په هغه ځای کې وویل شول چې له تاجر څخه به
دوهم ځل عشر نه اخلې.

باب الرِّکَازِ

داباب درکاز دزکوة په بیان کې دی

اصلا دلته درې لفظونه دي معدن ،کنزاورکاز ،معدن هغه مال دی چې الله ﷻ دځمکې دپیداکولو په وخت
کې په ځمکه پیداکړی وي ،اوکنزهغه مال دی کوم چې انسانانو په ځمکه کې ښخ کړی وي اورکاز
کنزاومعدن دواړوته شامل دی ولې چې رکاز دمرکوز په معنی سره دی یعنی په ځمکه کې ښخ کړل شوی که
ښخونکی خالق وی اوکه مخلوق وي.

هسې خومناسب داوو چې باب رکاز یې په کتاب السیر کې ذکرکړی وای ولې چې له رکاز څخه چې
څه اخیستل کیږي هغه زکوة نه دی اودده مصرف هم هغه دی کوم چې دغنیمت دمال مصرف دی
مګرفقهاوداله کتاب الزکوة سره ملحق کړی دی ولی چې دواړه مالی وظیفي دي ،بیاله یې باب العشر څخه
مقدم کړځکه چې رکازمحض قربت دی اوعشرکله له تغلبی څخه هم اخیستل کیږي په کوم کې چې دقربت
معنی نشته له دی وجه یې رکازترعشرمخته ذکرکړ.

(۲۴)خمس معدن نقد و نحو حدید في أرض خراج أو عشر (۲۵) لا داره وارضه (۲۶) وكنز (۲۷) وباقيه للمختط له وزئبق (۲۸) لا ركاز دار حرب (۲۹) وفيروزج ولؤلؤ وعنبر

ترجمه:پنځمه حصه به اخیستل کیږي دنقدو (سرواوسپینوزرو) اوداورسپینې په شان شیانو په کان کې په
خراجي یا عشری ځمکه کې ،نه دده په کورکې اونه دده په ځمکه کې ،اودخزانې ،اوباقی دمختط له لپاره
دی اودپاره (پنځمه حصه به اخیستل کیږي) نه ددارالحرب په کان کې ،اوپه فیروزه کې ،اوپه ملغلروکې
اوپه عنبروکې.

تشریح: (۶۴) که یوچالره نقدین یعنی د سرو اوسپین زرویااورسپینې وغیره کان په لاس ورغی که خراجی
ځمکه وي که عشری ځمکه وي نوپه دې که به خمس (پنځمه حصه) اخیستل کیږي ﴿لقوله ﷺ وفي الرِّكَازِ الْخُمُسُ
﴾(یعنی په رکازکې خمس دی)،همداراز له اسلام څخه وړاندې ټولې ځمکې دکفاروپه قبضه کې وې
مسلمانانوپه هغوئ قبضه وکړه اوهغه یې له معدنیاتوسره په غنیمت حاصلې کړې اودغنیمت په مال کې
پنځمه حصه دالله تعالی وي په دې وجه به په معادنوکې هم پنځمه برخه دالله تعالی لپاره واجب وي.
ف:معدن په درې قسمه دی (۱) جامد ،کوم کې ویلې کیږي لکه سره زر ،سپین زر ،اورسپینه اوپیتل وغیره
(۲) جامدکوم چې نه ویلې کیږي لکه چونه ،رانجه ،مالګه وغیره (۳) غیرجامد ،لکه ډیزل ،پیټرول وغیره ،په
اولنی قسم کې خمس واجب دی اوپه پاتې دووقسمونوکې هیڅ هم واجب نه دي.

(۶۵)قوله لافي داره وارضه اي لايخمس معدن وجدفي داره وارضه ،يعني كه چاپه خپل كوركې معدن پيدا كړنو په دې كې دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد خمس نشته ولې چې معدن دځمكې له اجزاء څخه دى نو لكه څرنګه چې دځمكې په نورو اجزاءو كې خمس نشته نو په معدن كې به هم نه وي ،همداشان كه معدن دچاپه مملوكه ځمكه كې وو نو په دې كې هم خمس نشته لماقلنا.

ف:لوړذكرشوى قول دامام ابو حنيفه رحمه الله دى اودصاحبينو رحمهما الله تعالى په نزدكه ځمكه مملوكه وي اوكه مباح وي نو په معدن كې يې خمس شته اوهمدا قول راجح دى لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله :وفي الارض المملوكة روايتان عن ابي حنيفة رحمه الله فعلى رواية الاصل لافرق بين الارض والدار حيث لاشئ فيهما وعلى رواية الجامع الصغير بينهما الفرق ووجهه ان الدار لامؤنة فيها اصلا فلم تخمس فصار الكل للواجد بخلاف الارض فان فيها مؤنة الخراج والعشر فتخمس لكن في الهداية ذكر وجه الفرق بين الارض والدار على رواية الجامع الصغير ولم يذكر وجه رواية الاصل وربما يشعر هذا باختيار رواية الجامع وفي حاشية العلامة نوح ان القياس يقتضي ترجيحها الامر بين الخ(ردالمحتار: ۲/۵۰)

(۶۶)قوله وكنز اي خمس كنز ايضا،پرمعدن باندې عطف دى له دى وجه مرفوع دى ،يعني كه چامدفون (ښخ كړل شوى)مال ومونډكوم ته چې كنزويل كيږي نوله ده څخه به هم خمس اخيستل كيږي لقوله ﷺ وفي الركاز الخمس(په ركازكې خمس دى)اودركاز اطلاق پركنزهم كيږي كمامر.

ف:په مدفون مال كې كه داسلام كومه نښه ومونډل شوه مثلاپرهغه كلمه شهادت ليكل شوي وه نوداد لقطي په حكم كې دى په دې كې خمس نشته بلكه په خلګوكې به اعلان كيږي كه ددې مالك ومونډل شونوهغه ته به يې وركړي اوكه مالك ونه مونډل شونوكه مونډكى په خپله فقيروي نوهغه يې پخپله مصرفولى شې كه نه نو فقيرانوته دې وركړي اوكه په كنزكې دكفرعلامه ؤمونډل شوه مثلاپرده دبت تصويروو نوكه په غيرمملوكه ځمكه كې وو نو په دې كې يوخمس واجب دى پاتې نورڅلوراخماس دطرفينو په نزددمالك دى اودامام ابويوسف په نزددمونډكى دې فتوى دامام ابويوسف رحمه الله پرقول ده كمافي الشامية:وقال ابويوسف رحمه الله الباقي للواجد كمافي ارض غير مملوكة وعليه الفتوى قلت وهو حسن في زماننا لعدم انتظام بيت المال.(ردالمحتار: ۲/۵۱)

ف:اوكه داسلام اودكفركومه علامه نه وونو يوقول دادى چې دابه دجاهليت دزمانې ښخ كړاى شوي ګڼل كيږي ولې چې اصل دوردجاهليت دى اسلام وروسته پرې غالب شواويوقول دادى چې دابه اسلامي دفينه (ښخ كړاى شوي)ګڼل كيږي ولې چې زمانه ډيره تيره شوي ده لهذااوس دادجاهليت دفينه نه شي ګڼل كيداى ليكن صحيح دادى چې دادجاهليت ددوردفينه(ښخ كړاى شوي) ده كمافي الهندية :ولواشتبه الضرب بان لم يكن فيه شئ من العلامات يجعل جاهليا في ظاهر المذهب (هندية:۱/۱۸۵)وقال ابن الهمام :لان مدفون اهل الجاهلية يوجد بديارنا اليوم مرة بعد اخرى(فتح القدير:۲/۱۸۳)

(۶۷)يعني دمملوكې ځمكې له كنزڅخه له خمس اخيستلووروسته باقي څلوربرخې دمختط له دى (مختط له هغه كس ته ويل كيږي چاته چې بادشاه داځمكه ددې ملك دفتح كولو په وخت كې وركړې وي اوپه خط كشولوسره يې ده ته ددې طول اوعرض ورمتعين كړى وي)ولې چې له ملك فتح كيدلوڅخه وروسته په دې ځمكې ترټولو دمخه قبضه دهمدې مختط له شوي ده اوحال دادى چې دا خصوصي قبضه ده لهذاكه څه هم داقبضه صرف پرظاهرباندې ده مګرمختط له ددې دباطن مالك هم جوړيږي داداسې شوه

لکه یو څوک چې داسې ماهي ښکار کړي چې دهغه په نس کې ملغلره وي نو د ماهي په خرڅولو سره هم ملغلره دده له ملک څخه نه وځي ولې چې ملغلره دماهي په نس کې امانت ده.

ف:لوړ ذکرشوی دطرفینو مسلک دی دامام ابویوسف رحمه الله په نزد باقي څلور اخماس دموندونکی دي اوفتوی هم پرهمدي قول ده کمافی الشامیة :وقال ابویوسف رحمه الله الباقی للواجد کمافی ارض غیرمملوکة وعلیه الفتوی قلت وهوحسن فی زماننالعدم انتظام بیت المال (ردالمحتار:۲/۵۱)

قوله وزیبق ای خمس زیبق ایضا،زیبق مرفوع دی پرمعدن باندی عطف دی ،یعنی دامام ابوحنیفة رحمه الله اخری قول دادی چې په معدنی پاري کې هم خمس شته او همدا دامام محمد رحمه الله قول هم دی ولی چې داپه اصل کې ډبره ده دکومې له پخیدلو څخه چې زیبق ویلې بهیږي نو داله پیتل سره مشابه شوه ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدپه زیبق کې خمس نشته ولی چې زیبق له ځمکې څخه راوځي اومائع شې دی نوله ډیزلووغیره سره دمشابهت له کبله په دې کې خمس نشته .

(۶۸)قوله لارکاز دارحرب ی لایخمس رکاز دارحرب وجده مستامن فیها،یعنی په دارالحرب که کوم مسلمان مستامن معدن وموندنوپه دې کې خمس نشته ولی چې دامال غنیمت په معنی کې نه دی له دې وجه چې مال غنیمت خوهغه وي کوم چې دکفاروپه قبضه کې وي بیامسلمان پرهغه غالب شې اوقبضه پرې وکړي ،ښکاره خبره ده چې داپه دې شان سره نه ده لهذا داکس په پټه طریقه سره دمال غلاکونکوپه شان شوپه دې وجه په دې کې خمس نشته .(کذافی الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۵۲)

(۶۹)قوله وفیروزج ای لایخمس فیروزج ،یعنی په فیروزه کې (یوقسم قیمتی ډبره ده)هم خمس نشته ﴿لقوله ﷺ لاخمس فی حجر﴾(یعنی په ډبره کې خمس نشته)،همداشان په ملغلره (دپسرلی دموسم یوه څاڅکی چې په صدف کې لویږي هغه ملغلره جوړیږي)اوپه عنبر(دسمندرله ځګ څخه پیداکیږي دبعض حضراتورأیه داده چې عنبریوقسم وابنه دې چې په سمندرکې راشنه کیږي)کې هم دطرفینوپه نزد خمس نشته ولی چې خمس په هغه مال کې وي کوم چې وړاندې دکفاروپه قبضه کې وي بیامسلمان پرهغه په غلبه سره قبضه وکړي حال داچې دسمندرپه عمق باندې دهیچاقبضه نه وي لهذاپه دې کې خمس نشته .

ف:دامام ابویوسف رحمه الله په نزدپه ملغلرواوعنبروکې هم خمس واجب دی همداشان په هغوټولوزیوراتو کې هم خمس واجب دی کوم چې له سمندرڅخه حاصلیږي ولی چې داپه سمندرکې موندل کیږي اوپرسمندرهم دبادشاهانوقبضه وي لکه چې دځمکې په دننه کې پرکانونوباندې ،دطرفینوقول راجح دی : کمافی الهندیة:ولاشی فیمایستخرج من البحر کالعنبرواللؤلؤوالسمک کذافی فتاوی قاضی خان والخلاصة(هندیة:۱/۱۸۵)

بَابُ الْعُشْرِ

دا باب دعشرپه بیان کې دی

دځمکې په حاصلاتوکې کله عشر،کله نصف عشراوکله دعشردوچنده واجب وي ټولوته تغلیبادعشر نوم ورکړل شوی دی ،ودې باب له باب الرکازسره مناسبت دادی چې رکازمحض قربت دی حال داچې عشرکله له

تغلبي څخه هم اخيستل کيږي کوم کې چې د قربت معنی نشته په دي وجه رکازله دي څخه مخته ذکرکړای شو.

(۷۰)يجب في عسل أرض العشر (۷۱)ومسقي سماء وسيح بلاشرط نصاب وبقاء (۷۲)(الا الحطب والقصب والحشيش (۷۳)ونصفه في مسقي غرب ودالية

ترجمه:واجب دی عشردعشري ځمکې په عسلوکې ،اوپه بارانی اودوياليې په اوبوسره اوبه شوي ځمکې کې بلاشرط نصاب اوبلاشرط بقاء ،مگرنه په لرگيو ،نلانو او وابنوکې ،اونصف عشردی په بوشکه اواوهټ (څرخ)سره په اوبه شوي ځمکې کې.

تشريح:(۷۰)دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزدکې په عسلوکې عشرواجب دی که لږوي اوکه ډيروي په دي شرط چې له عشري ځمکې څخه حاصل شوي وي دوجوب عشردليل دنبی کريم ﷺ داقول ﴿ان في العسل العشر ﴾(يعنی په شاتوکې عشرسته) دی ،بياحضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په وجوب عشرکې دنصاب اعتبارنه کوي په لږواوډيرودواړوکې عشرواجب دی لماروينا،اوامام ابويوسف رحمه الله په نزدکه دعسلومقدارلس مشکيزو(يوه مشکيزه پنځوس منه وي اومن دوه رطله وي) ته ورسيدی نوپه هغو کې عشرواجب دی ولی چې له عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنه څخه مروی ده چې له بنوشبابه سره دعسلومچيانې وي هغو خلگوبه له هرولسومشکيزو څخه يوه مشکيزه نبی کريم ﷺ ته ورکوله ،دامام محمد رحمه الله په نزددعسلونصاب پنځه فرقه (فرق بفتحتين دشپاړسورطلوبرابريولوبنی دی اويورطل څلورديرش تولی اويوه نيمه ماشه وي)دی نوکه عسل دپنځوفرقوپه اندازه وو نوعشرواجب دی که نه نو نشته ولی چې په کوموپيمانوسره عسل اندازه کيږي په هغوکې ترټولولويه پيمانه فرق دی،اودامام محمد رحمه الله اصول تيرشول چې شی چې کله پخپله اعلی پيمانه سره پنځه چنده ته ورسيږي نوپه دي کې عشرواجب دی .

ف:دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی کمافي الدرالمختار:(يجب)العشر (في عسل)وان قل(ارض غيرالخراج)ولوغيرعشرية كجبل ومفازة بخلاف الخراجية لئلايجتمع العشروالخراج (الدرالمختارعلی هامش الشامية:۲/۵۳)

ف:کوم سبزيات چې په کورنوکې دخپل استعمال لپاره کرل شوي وي په هغو کی هم عشرواجب دی. (حقانية ۳/۵۸۸)

(۷۱)قوله ومسقي سماء ای يجب العشرفي كل شئ سقي بمطر،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددځمکې په حاصلاتوکې عشرواجب دی نصاب اوبقاء هم شرط نه ده خواه که حاصلات لږوي اوکه ډيروي ،ترپوره کاله پورې پاته کيدای شي اوکه نه ،اوخواکه ځمکه دنهروغيره په جاري اوبوسره اوبه شوي وي اوکه دباران په اوبوسره په هرصورت کې عشرواجب دی ﴿لقوله ﷺ مااخرجت الارض ففيه العشر ﴾(يعنی کوم شيان چې ځمکه راوباسي په هغوکې عشرشته)ولی چې حديث شريف مطلق دی دباقی پاتې کيدويانه پاتې کيدوهيڅ شرط نشته ،همداراز دحاصلاتودکمښت اوزياتوب هم هيڅ قيدنشته، دصاحبينو رحمهماالله تعالی په نزدترپنځووسقو(يووسق دنبی کريم ﷺ په صاع سره شپيته صاع دی نوپنځه وسقه له دري سوه صاع سره برابردي اويوه صاع څلورمنه وي اويومن دوه رطله وي اويورطل څلورديرش تولي اويوه نيمه ماشه وي) څخه په لږوحاصلاتو کې عشرنشته ﴿لقوله ﷺ ليس فيمادون خمسة اوسق صدقة﴾ (يعنی له پنځو وسقو څخه لږوکې

زكوة نشته)، دصاحبينو دحديث ځواب دادى چې له دي څخه مراددادى چې دتجارت په مال كې دوجوب زكوة لپاره دپنځووسقو وجودضروري دى په دي وجه چې په هغه زمانه كې خلكو دوسق په حساب سره خريداوفروخت كاوو او ديوه وسق خرماوو قيمت به څلويښت درهمه وو نو دپنځووسقو قيمت دوه سوه درهمه وو كوم چې دزكوة نصاب دى .

ف:دصاحبينوپه نزدداهم شرط دى چې حاصلات به بقاء لري يعنى له علاج څخه بغير(له علاج څخه مراد مثلا دمختلف قسمونو كيمكل وغيره لګول يا په كولډاستوريج(يخوځايونو) كې ايښودل دي)به تريوه كاله پوري باقى پاتې كيداى شي لكه غنم، اوريشې وغيره لهذا په سبزياتو وغيره كې عشرواجب نه دى ولى چې دوئ لره بقاء نشته دليل دنبى كريم ﷺ داارشاد﴿ليس في الخضراوات صدقة ﴾ (يعنى په سبزياتو كې زكوة نشته)دى او په سبزياتو كې دعشردنه واجبيدلو علت ددوئ نه بقاء ده لهذا هرهغه حاصل چې له بغيرله علاج څخه باقى نشې پاتې كيدلاى په هغوكې به عشرواجب نه وي، دصاحبينو دپيش كرده حديث ځواب وركړل شوى دى چې له دي څخه مراددادى چې صاحب خضروات ،چې خضراوات له خپله ځانه سره ويسې او په عاشرتيرشي اوعاشرته دعشرقيمة وركولو په ځاى عين خضراوات وركوي نوعاشربه عين خضراوات نه اخلې ولى چې له عاشرسره دعين خضراواتو دخرابيدلو خطره ده .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى كمافي الدرالمختار:(و)تجب في (مسقى السماء)اى مطر(وسيح) كنهر (بلاشرط نصاب) راجع للكل (و)بلاشرط (بقاء)وحولان حول ،قال ابن عابدين (قوله بلاشرط نصاب)وبقاء فيجب فيمادون النصاب بشرط ان يبلغ صاعاوقيل نصفه وفي الخضراوات التى لاتبقى وهذاقول الامام وهو الصحيح (الدرمع الشامية:۲/۵۴)

(۷۲)البته په نلانو ،دسونګ په لرګيانواو وبنو كې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدهم عشرواجب نه دى ولى چې داشيان دځمكې مقصودي حاصلات نه دي عموماخلك داشيان له باغونو څخه كاږي .

ف:هوكه دځمكې حاصلات همدغه شيان وو نوبيا په دي شيانو كې هم عشرواجب دى ،همداشان هرهغه شى كوم چې دځمكې مقصودي حاصل نه وي په هغه كې عشرنشته اوكوم شې چې دځمكې مقصودي حاصل وي نوپه هغه كې عشرشته كه څه هم وابنه وي كمافي مجمع الانهر(ولاشئ في حطب وقصب فارسى وحشيش) لانه لاتقصدبهمااستغلال الارض غالباللوتخلهامشجرة اومقصبة اومنبتاللحشيش ففيه العشر (مجمع الانهر:۱/۳۱۹)

ف:غرب بالفتح غټې بوشكه،داليه رهټ (څرخ)په كوم چې ډيري بوشكې تړل كيږي بياهغه په غوايې وغيره سره څرخول كيږي .

ف:افيون دمتعددو مضروشيانو ماده ده په دي وجه دهغوله كښت اوتجارت څخه احترازضروري دى ،بياهم كه دتداوى لپاره وى نودهغوئ كښت اوكاروبارجائزدى په دي وجه دهغوئ په حاصلاتو كې هم عشرلازم دى .(حقانية :۳/۵۸۴)

(۷۳)قوله ونصفه في مسقى غرب اودالية اى يجب نصف العشرفي مسقى غرب اودالية ،يعنى كه يې ځمكه په لويه بوشكه يادڅرخ په ذريعه سره اوبه كوله نوباتفاق الائمة الثلاثة په دي كې نصف عشر(شلمه حصه) واجب ده ولى چې په دي صورتونو كې مشقت زيات دى په دي وجه په دي كې نصف عشرواجب دى ،اوكه يې دلښتى

یاباران په اوبو سره اوبه کوله نو ځکه چې په دې کې مشقت کم دی په دې وجه په دې کې عشر (لسمه حصه)واجب دی.

(۷۳)وَلَاتُرْفَعُ الْمُؤَنُ (۷۵)وَضِعْفُهُ فِي أَرْضٍ عُشْرِيَّةٍ لِتَغْلِبِيٍّ (۷۶)وَإِنْ أَسْلَمَ أَوِ ابْتَاعَهَا مِنْهُ مُسْلِمٌ أَوْ ذِمِّيٌّ (۷۷)وَخَرَاجٌ إِنِ اشْتَرَى ذِمِّيٌّ أَرْضًا عُشْرِيَّةً مِنْ مُسْلِمٍ (۷۸)وَعُشْرٌ إِنْ أَخَذَهَا مِنْهُ مُسْلِمٌ بِشُفْعَةٍ أَوْ رُدَّ عَلَى الْبَائِعِ لِلْفَسَادِ

ترجمه: او نه دې رفع کیږي خرڅه، او دوچنده دې واخیستل شي د تغلبی له عشري ځمکې څخه، که څه هم هغه اسلام قبول کړي یا واخلي هغه له ده څخه کوم مسلمان یا ذمی، او خراج واجبیږي که واخیستله کوم ذمی له مسلمان څخه عشري ځمکه، او عشر واجبیږي که ویوړه له ده څخه کوم مسلمان په حق شفعه سره یا واپس کړل شوه پر بائع باندې د فساد بیع په وجه،

تشریح: (۷۴)د ټولو حاصلاتو عشر اداء کول ضروري دی د مزدورانو او غوایانو وغیره خرڅه به نه ځینې باسي ولی چې نبی کریم ﷺ دلږ او زیاتو خرڅو په مطابق دواجب مقدارهم مختلف بیان کړی دی نو که خرڅې ځینې وایستل شي نو بیابه تفاوت پاتې نه شي لهذا د خرڅوله وضع کولو څخه بغیر د ټولو حاصلاتو عشر واجب دی.

کوم قسم مصرف به منها کیږي

ف: فروټ (لنده میوه) تر مارکیټ پورې د رسولو خرڅه به ایستل کیږي که یا؟ په دې باره کې د برادر محترم مولانا دوست محمد صاحب یوه فتوی نقل کوم، مولانا صاحب لیکي: له باغ او کښت څخه په حاصلاتو چې څومره مصرف کیږي یعنی د ځمکې له کرنې ته د برابرولو څخه نیولې بیا تر حاصلاتو حاصلولو پورې چې کوم اخراجات (مصرف) کیږي مثلا، یوې کول، د ځمکې پوچې کول، ځمکه برابرول، تخم پاشل، اوبه کول، امبارورکول، د میوې دساتنې لپاره اسپرې وغیره کول، او مزدورانو ته د پرې کولو وغیره اجرت ورکول وغیره ته دفقه په اصطلاح کې مؤنة الزرع ویل کیږي بلاشبه دا خرڅه له عشر اداء کولو څخه مخکې له حاصلاتو څخه نه ایستل کیږي بلکه د ټولو حاصلاتو څخه به عشر ایستل کیږي، له دې څخه علاوه که مالک دا فروټ وغیره له دې ځای څخه لیرې کوم مارکیټ ته وړي (او ترا وسه یې عشر نه وي اداء کړی) تر څو چې په زیات قیمت سره یې خرڅ کړي په کوم کې چې دفقراء و هم فایده ده، نو دلارې کرایه او دپیکنګ (په کریټو وغیره کې بندولو) وغیره د خرڅې د منها کولو په باره کې کومه صریحه جزئیه خو په لاس رانغله مګر په نظائرو کې له غور او فکر کولو څخه معلومیږي چې د فصل له حاصلیدلو څخه وروسته په مارکیټ کې تر خرڅولو پورې خرڅه به منها کیږي له دې څخه بعد به دباقی مانده روپو څخه عشر اداء کیږي لمافی التاترخانیة: قوله اذاکانت الارض عشریة فاخرجت طعاما وفی حمله الی الموضع الذی یعشر فیه مؤنة فانه یحمله الیه وتکون المؤنة منه (التاترخانیة ۲/۲۵۵):

ف: میوه او کښت که له پخیدو او تیاریدو څخه وروسته خرڅ کړای شي نو عشر د بائع پر ذمه واجب دی او که خام فصل خرڅ کړای شي نو که مشتري فی الحال قطع (یعنی پرې) کړل نو بیاهم عشر د بائع پر ذمه دی او که یې تر پخیدو پورې پرینښودل نو د مشتري پر ذمه دی کمافی الهندیة: واذاباع الارض العشریة وفیهازرع قدادرک مع

زرعها او باع الزروع خاصة فعشره على البائع دون المشترى ولو باعها والزرع بقل ان قطعه المشترى فى الحال يجب على البائع ولو ترکه حتی ادرک فعشره على المشترى (هندية:۱/۱۸۷)

(۷۵) قوله وضعفه فى ارض عشرية لتغلبى اى يجب ضعف العشر فى ارض عشرية لتغلبى ،يعنى دبنى تغلب دنصارى له عشري ځمكې له مالونو څخه به ټيكس (ماليه) دهغه زكوة دوچنده اخلې كوم چې له مسلمانانو څخه اخيستلى كيږي ولى چې دصحابه كرامو ﷺ پردې اجماع ده .

(۷۶) تغلبى كه مسلمان شو يا دتغلبى ځمكه كوم مسلمان يا ذمى واخيستله نوهم دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد له دې ځمكې څخه به دوچنده اخيستل كيږي ولى چې دادې ځمكې وظيفه ده لهذا دځمكه بمع وظيفه دمسلمان يا ذمى طرف ته منتقل كيږي ،امام ابويوسف رحمه الله په نزد كه دتغلبى ځمكې كوم مسلمان واخيستل يا تغلبى مسلمان شو نو بيا دا ځمكه عشري كرځي .

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى كمافى الدر المختار: ويجب ضعفه فى ارض عشرية لتغلبى مطلقا وان كان طفلا وانثى او اسلم او ابتاعها من مسلم او ابتاعها منه مسلم او ذمى لان التضعيف كالخراج فلا يتبدل .(الدر المختار على هامش الشامية:۲/۵۶)

ف: بنى تغلب په بلاد روم كې دنصارى عرب له نسل څخه يوه قبيله ده كومه چې دجاهليت په زمانه كې عيسائي شوي وه بيا حضرت عمر ﷺ دخپل خلافت په زمانه كې له دې خلكو څخه جزيه طلب كړه نو دې خلكو انكار وكړ او ويې ويل چې موږ عرب يو له موږ سره دې هم دنورو عربو په څير معامله وشي مګر حضرت عمر ﷺ وفرمايل چې له مشرک څخه صدقه نه اخلم ددې په اوريدلو سره بعضې وتښتيدل او له نصارى روم سره يوځاى شول نو نعمان بن زرعه عرض وكړ يا امير المؤمنين دوئ په جزيه وركولو سره شرميږي لهذا ته دصدقې په نامه له دوئ څخه جزيه وصول كړه او دښمنانو ته ددوئ مدد كول مه پريږده نو حضرت عمر ﷺ دوئ راوغوښتل څومره مقدار چې له مسلمانانو څخه زكوة اخيستل كيده دهغه دوچنده يې ددوئ په ښځو او نارينه ومقرره كړه او پردې صحابه كرامو ﷺ اتفاق وكړ .

ف: دپاكستان اكثره ځمكې عشري دي دكومو ځمكو چې په يو خاص دليل سره خراجي والى ثابت نه وي نو هغه به عشري ګڼل كيږي ،حكومت چې كوم ټيكس وصول كوي په هغه سره عشر نه اداء كيږي عشر جلا نور وركول ضروري دى .(فتاوى عثمانى :۲/۱۲۷)

(۷۷) قوله وخراج ان اشترى ذمى ارضا الخ،يعنى كه دمسلمان عشري ځمكه كوم ذمى واخيستله نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد به له ده څخه خراج اخيستل كيږي ولى چې په عشر كې دعبادت معنى شته او ذمى دعبادت اهل نه دى لهذا خراج دكافر له حال سره ښه مناسب دى ،امام ابويوسف رحمه الله فرمايي : چې له ده څخه به دوچنده عشر اخيستل كيږي او دامام محمد رحمه الله په نزد حسب سابق اوس هم دا ځمكه عشرى ده او له ده څخه به عشر اخيستل كيږي .

ف: دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى كمافى الدر المختار: (واخذ الخراج من ذمى) غير تغلبى (اشترى) ارضا (عشرية من مسلم) وقبضها منه للتنافى ،قال ابن عابدين: (قوله للتنافى) علة لقوله واخذ الخراج يعنى انما وجب الخراج لا العشر لان فى العشر معنى العبادة والكفر ينافيها (الدر مع الشامية:۲/۵۶)

(٧٨) قوله وعشران اخذها منه مسلم بشفعة اي يجب عشران اخذ الارض الخراجية من الذمي المسلم بشفعة ، يعني كه مسلمان عشري ځمكه له ذمي څخه بحق شفعة واخيستله نوله دي مسلمان څخه به عشر اخيستل كيږي ولې چې دحق شفعه له وجه گويا دا ځمكه دي شفيع له ذمي څخه بلكل اخيستي نه ده بلكه له مسلمان څخه يې اخيستي ده او مسلمان چې كله له بل مسلمان څخه عشري ځمكه واخلي نو په هغې كې عشر وي. همداشان كه ذمي له كوم مسلمان څخه عشري ځمكه واخيستله مگر دفساديبع په وجه سره يې دا ځمكه بيرته مسلمان بائع ته واپس كړه نو بيا به هم په دي كې عشروي ولې چې دا خو داسې شوه گويا بلكل بيع شوي نه ده وځكه چې دفساديبع له كبله واجب الردوه لهذا له دي څخه د مسلمان بائع حق نه ده منقطع شوى .

(٧٩) وَإِنْ جَعَلَ مُسْلِمٌ دَارَهُ بُسْتَانًا فَمُؤْنَتُهُ تَدُورُ مَعَ مَائِهِ بِخِلَافِ الذِّمِّيِّ (٨٠) وَدَارُهُ حُرٌّ كَعَيْنِ قِيرٍ وَنِفْطٍ فِي أَرْضِ عُشْرٍ (٨١) وَلَوْ فِي أَرْضِ خَرَاجٍ يَجِبُ الْخَرَاجُ

ترجمه : او كه مسلمان له خپل كور څخه باغ جوړ كړ نو دده دواجب مقدار مدار په اوبه ده په خلاف د ذمي ، او د ذمي كور ازاد دى لكه چې د قار او نفط چشمه په عشري ځمكه كې ، او كه خراجي ځمكه وي نو خراج واجب دى.

تشريح: (٧٩) كه كوم مسلمان له خپل كور څخه باغ جوړ كړ نو د دي عشر د اوبو په لحاظ سره بدليږي يعنى كه دي باغ ته عشري اوبه راتلې نوله حاصلاتو به يې عشر اخيستل كيږي او كه باغ په خراجي اوبو اوبه كيده نو په حاصلاتو كې يې خراج دى ولې چې په ځمكه كې نماء د اوبه له كبله ده نو ځمكه د اوبه تابع ده لهذا دا به په مسلمان باندى ابتداء خراج نه گڼل كيږي بلكه دا داوبو قديمه وظيفه ده ، په خلاف د ذمي يعنى كه ذمي له خپل كور څخه باغ جوړ كړ نو په حاصلاتو كې به يې خراج واجب وي ولې چې له ذمي څخه عشر اخيستل متعذر دي په دي وجه چې په عشر كې د عبادت او قربت معنى شته او قربت له كافر څخه متصور نه دى.

ف: داسمان اوبه عشري دي همداشان د چشمو ، څاهانو او داسې دريابونو اوبه كوم چې د چا په تصرف كې نه وي عشري دي او كوم نهرونه چې غيرمسلم عجميانو كيندلي وي د هغو اوبه خراجي دي همداشان د خراجي ځمكې د چينو او څاهانو اوبه هم خراجي دي . (كذافى الهداية : ١/١٨٦، ومجمع الانهر : ١/٢٢٣)

(٨٠) او د ذمي كور ازاد دى په هغه كې هيڅ واجب نه دي ولې چې حضرت عمر ﷺ دا وسيدلو كورنه له ټيكس څخه بري گرځولې وو پرهمدي د صحابه كرامو ﷺ اجماع ده ، همدارازپه كورنو كې نماء نشته ، لكه څرنگه چې د قير (رال ، بدبويه تيل ، توررنگي يو قسم شيان كوم چې په كشتيو پسې مشل كيږي ترڅو اوبه وردننه نه شي) او نفط (يو قسم تيل كوم چې په اوبه خپاره يې) په چينه كې چې په عشري ځمكه كې وي چې په دوئ كې هيڅ شى هم واجب نه دى ولې چې دا د ځمكې حاصلات نه دي بلكه دا و بو د چينو په شان چينې دي لهذا په دوئ كه څه واجب نه دي .

(٨١) او كه قير په خراجي ځمكه كې وو نو په دوئ كې به خراج واجب وي مگرله دي څخه مراد دادى چې د چينې په گيرچاپيره كې ځمكه كې خراج دى نه بنفسه په چينه كې ، وجه يې داده چې په داسې ځمكه كې خراج واجب وي كومه چې د زراعت قابله وي او ذمي هغه ابادہ نه كړي .

ف: که ځمکه د زراعت قابله وه مګر مالک په هغې کې هیڅ شی ونه کرل نو که خراجی ځمکه وي نو په دې کې خراج واجب دی او که عشري ځمکه وي نو هیڅ هم واجب نه دي، او که د ځمکې حاصلات هلاک شول نو که ځمکه عشري وه او که خراجي دواړه ساقطیږي کمالی شرح التنویر: تمکن ولم یزرع وجب الخراج دون العشر ویسقطان بهلاک الخارج (ردالمحتار: ۲/۵۹)

بَابُ الْمَصْرِفِ

دا باب د زکوة د مصرف په بیان کې دی

کله چې مصنف رحمه الله له زکوة او د زکوة له متعلقاتو څخه فارغ شو نو اوس ضروري شوه چې د ابیان کړي چې د دې شیانو مصرف څوک دي په دې وجه مصنف رحمه الله د مصرف زکوة وغیره بیان شروع کړ.

(۸۲) هو الفقير والمسكين وهو أسوأ حالا من الفقير (۸۳) والعامل (۸۴) والمكاتب (۸۵) والمديون (۸۶) ومنقطع الغزاة (۸۷) وابن السبيل (۸۸) فيدفع إلى كلهم أو إلى صنف

ترجمه: د زکوة مصرف مسکین او فقیر دی او مسکین بد حاله دی تر فقیر، او عامل دی، او مکاتب دی، او مقروض دی، او کوم چې له غازیانو څخه منقطع شوی وي، او مسافر دی، نو ورد ي کړي دي ټولو ته یا یو صنف ته.

تشریح: د زکوة د مصارفو په باره کې اصل د الله تعالی دا ارشاد دی ﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ الخ﴾ په دې ایت مبارک کې الله تعالی اته قسمه ذکر فرمایلي دي (۱) له دې اتو قسمونو څخه یو قسم مؤلفة القلوب دي مؤلفة القلوب دري قسمه خلک دي /نمبر۱. هغه کفار کوم ته چې نبی کریم ﷺ په دې وجه زکوة ورکاوو تر څو چې دوئ اسلام قبول کړي او د دوئ په اسلام قبولو سره د دوئ قوم ته اسلام قبول کړي. /نمبر۲. هغه خلک کوم چې اسلام قبول کړی وو مګر د دوئ اعتقاد کمزوری وو نو دوئ د ثابت قدم پاتې کیدلو لپاره نبی کریم ﷺ دوئ ته زکوة ورکاوو. /نمبر۳. هغه کفار کوم ته چې نبی کریم ﷺ په دې وجه زکوة ورکاوو تر څو د دوئ له شر څخه مسلمانان محفوظ شي، مګر په ایت مبارکه کې له ذکر شویو اتو قسمونو څخه اوس دا قسم (یعنی مؤلفة القلوب) ساقط دي ولی چې الله تعالی اوس اسلام ته په غلبه ورکولو سره له دې څخه پرواه کړی دی.

ف: د محققین محدثینو او فقهاو له تصریحاتو څخه دا ثابته شوي ده چې د مؤلفة قلوب حصه کوم کافر ته په هیڅ وخت کې نه ده ورکړل شوي نه د رسول الله ﷺ په عهد مبارک کې او نه د خلفاء راشدینو په زمانه کې، او کومو غیر مسلمانانو ته چې ورکول ثابت دي هغه له مد زکوات (یعنی د زکوات له فند) او صدقاتو څخه نه وو بلکه له خمس غنیمت څخه ورکړل شوي دي له کوم څخه چې هر حاجت مند مسلم او غیر مسلم ته ورکول کیدای شي نو مؤلفة قلوب صرف مسلمان پاته شول او په دوئ کې چې کوم فقیران دي د هغوئ د حصې پریقاباندي اوس هم د ټول امت اتفاق دی اختلاف صرف په دې صورت کې دی چې دا خلک غني او صاحب

نصاب وي نو دامام شافعي او امام احمد رحمهما الله په نزد څرنګه چې په ټولو مصارف زكوة كې فقرا و حاجت شرط نه دی په دي وجه په مؤلفة قلوب كې داسې خلک هم داخلوي كوم چې غني او صاحب نصاب وي ،دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او د امام مالک رحمه الله په نزد له عاملين صدقه څخه علاوه په ټولو مصارفو كې فقر او حاجت شرط دی د دي تحقيق خلاصه دا را ووتله چې د مؤلفة قلوب حصه د ائمه اربعه په نزد منسوخه نه ده ځكه چې مؤلفة قلوب صرف مسلمان پاته شول د هغوئ حصه قائمه او باقي ده .(معارف القران :۴/۴۰۴)

(۸۲).(۲)د زكوة له مصارفو څخه فقراء او مساكين دي ،فقراء هغه دي له كوموسره چې لږمال وي مګر بقدر نصاب نه وي. (۳)مساكين هغه دي له كوموسره چې هيڅ نه وي ،مساكين له فقراء څخه په بد حال دي ،وقد قيل على العكس.

(۸۳).(۴)د زكوة له مصارفو څخه څلورم قسم عاملين دي عاملين هغه دي كوم چې د امام له طرف څخه د مالوله مالكانو څخه د صدقاتو په وصولو مأموروي ،امام عامل او د هغه سره يو ځای كاركونكو ته د دوئ د عمل په اندازه وركول كيږي حتى كه خلګو په خپله زكوة امام ته راوړی يا مال زكوة د عامل له لاس څخه هلاک شو نو عامل مستحق نه دی ولی چې عامل ته د ده د عمل په وجه سره وركول كيږي او عمل نه شو موجود ځكه نو هغه مستحق هم نه دی.

(۸۴).(۵)د زكوة له مصارفو څخه پنځم قسم وفي الرقاب دي يعنی په مال زكوة سره دي د مكاتب غلام د بدل كتابت په اداء كولو كې مرسته وكړای شي.

(۸۵).(۶)د زكوة له مصارفو څخه شپږقسم غارمين دي غارم هغه شخص دی د كوم پرذمه چې د خلګو پورونه باندي وي او هغه له قرض څخه د زائد مقدار نصاب مالک نه وي.

(۸۶).(۷)د زكوة له مصارفو څخه اوم قسم وفي سبيل الله دي ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزد له وفي سبيل الله څخه مراد داسې غازی دی د كوم په كوركې چې مال وي مګر اوس وخت په سفر جهاد كې له ده سره مال نه وي ،دامام محمد رحمه الله په نزد هغه حاجی مراد دی د كوم سره چې په سفر حج كې مال نه وي ، د بعضو په نزد طلباء علم مراد دي په بدائع كې راغلي دي چې تمام طرق قرب مراد دي.

ف: دامام ابويوسف رحمه الله قول صحيح او راجح دی كما في الدر المختار: وفي سبيل الله وهو منقطع الغزاة وقيل الحاج والاول قول ابي يوسف اختاره المصنف تبعا للكنز قال في النهر وفي غاية البيان انه الاظهر وفي الاسبيجابي انه الصحيح (الدر المختار على هامش الهداية ۲/۱۷:)

(۸۷).(۸)له مصارف زكوة څخه اتم قسم ابن سبيل دی ،له ابن سبيل څخه مراد هغه مسافر دی د كوم مال چې د ده په وطن كې وي مګر اوس وخت له ده سره په حالت سفر كې هيڅ هم نه وي ده لره دومره زكوة اخيستل جائز دی كوم چې ده لره د ده تر كوره په رسيدلو كې كفايت كوي له دي څخه زيات جائز نه دی.

(۸۸)يعني مذكوره اوه قسمه خلک زموږ په نزد د زكوة مصارف دي مګر د زكوة داسې مستحق نه دي چې دوئ ټولو ته زكوة وركول واجب دی لهذا كه صاحب مال زكوة دي او واقساموته وركړ نو هم جائز دی او كه يې ټول زكوة صرف يوه صنف ته وركړنو بيا هم جائز دي ولی چې حضرت ابن عباس رضي الله عنه د مذكوره

بالاايت مبارك په تشريح كې فرمايلي دي چې في اى صنف وضعته اجزاك (يعنى په اوو اقسامو كې چې كوم صنف ته هم زكوة وركړي جائزدى)لهذااووا قسامو ته وركول ضروري نه دى.

ف:دامام شافعى رحمه الله يوقول دادى چې اوه سره اقسام دزكوة مستحق دي لهذادهرقسم دري دري افرادو يعنى لږترلږه يوويښت افرادوته زكوة وركول ضروري دى ،دامام شافعى رحمه الله دليل دادى چې په ايت مبارك كې صدقات دمصارف طرف ته دلام په واسطه سره مضاف كړل شوى دى اولام داستحقاق لپاره راځي لهذااوه سره اقسام دزكوة مستحق دي ،امام شافعى رحمه الله ته ځواب وركړل شوي دى چې دالام داختصاص لپاره دى داستحقاق لپاره نه دى يعنى دصدقاتومصرف صرف اوه قسمه دي له دي ماسوادصدقاتو مصرف نشته دامطلب نه دى چې اوه سره اقسام دصدقاتو مستحق دي.

(۸۹)لاالى ذمي وَصَحّ غيرُها (۹۰)وبناءِ مسجدٍ (۹۱)وَتكفينِ مَيتٍ (۹۲)وقضاءِ دَينِه (۹۳)وشِراءِ قِنٍّ يَعتق (۹۴)وَأصلِه وإن علا وَفَرعِه وإن سَفَل (۹۵)وزوجِه وزوجها وعَبدِه (۹۶)ومكاتَبِه ومدبَّره وأمّ وَلَدِه (۹۷)ومُعتَق البعض

ترجمه:زكوة به ذمي ته نه وركوي اوصحيح ده له زكوة ماسوادنورو صدقاتو وركول ،اوكوة دي نه وركوي دمسجد په بناء كې ،اودمړه په تكفين كې ،اودهغه دقرض په اداء كولو كې ،اودغلام په اخيستلو كې دازادولو لپاره ،اوخپل اصل ته اګرلوړوي اوخپل فرع ته كه څه هم كښته وي ،اوخپلې ښځې ته اوخپل خاوندته اوخپل غلام ته ،اوخپل مكاتب ،مدبراوام ولدته ،اوهغه ته دكوم چې بعض حصه ازاده شوي وي.

تشريح:(۸۹)قوله لاالى ذمي اى لايدفع الزكوة الى ذمي ،يعنى ذمي (ذمي هغه كافرته ويل كيږي كوم چې دبادشاه په اجازه سره په داراسلام كې اوسيږي)ته زكوة وركول جائزنه دي ولى چې نبى كريم ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه ته فرمايلي وو چې خذهامن اغنيائهم (اى المسلمين)وردهاالى فقرائهم (اى المسلمين)(يعنى زكوة دمسلمانانو له مالدارانو څخه واخله اودهغوئ په فقيرانوئې مصرف كړه)لهذاغيرمسلم ته زكوة وركول جائزنه دي ، هوله زكوة څخه علاوه نورصدقات ذميانوته وركول جائزدي لقوله ﷺ ﴿تصدقواعلى اهل الاديان كلها﴾ (دټولو اديانوپه خلكوصدقه كوئ)ددي روايت تقاضا خوداده چې زكوة وركول هم جائزشي مګر دحضرت معاذ رضي الله عنه دحديث په وجه سره موږزكوة وركول جائزنه ګڼو.

ف:دامام زفر رحمه الله په نزد ذمي ته هم زكوة وركول جائزدى ځكه چې دالله تعالى ارشاد﴿ انماالصدقات للفقراء والمساكين الخ ﴾ مطلق دى مسلمان اوذمي دواړوته شامل دى ،زموږدليل دحضرت معاذبن جبل رضي الله عنه حديث دى چې دزكوة مصرف صرف مسلمان دى غيرمسلم ته زكوة وركول جائزنه دى ،مګرسوال دادى چې دحضرت معاذ رضي الله عنه حديث خبرواحددى اوپه خبرواحدسره په كتاب الله باندى زيادت جائزنه دى؟ځواب :ايت مبارك مخصوص منه البعض دى ځكه چې له دي څخه دزكوة وركونكي اصول اوفروع بالاجماع خارج دي اودمخصوص منه البعض تخصيص په خبرواحدسره جائزدى.

(۹۰)قوله وبناء مسجد اى لاتصرف الزكوة الى بناء مسجد ،يعنى دزكوة په مال سره مسجدجوړول جائزنه دي ولى چې په زكوة كې تمليك (يعنى فقيرمالك جوړول)ركن دى حال داچې دمسجدپه تعميركولو كې دتمليك معنى نشته.

(۹۱)قوله وتكفين ميت اى لاتصرف الزكوة الى تكفين الميت ،يعنى دزكوة په مال سره كوم مړده لره كفن وركول هم جائزنه دي ولی چې په مړده کې هم دمالک جوړيدلو صلاحيت نشته په دي وجه دزكوة په روپوسره ده ته كفن وركول هم جائزنه دي .

ف:كه دزكوة روپۍ مستحقو طالبانوته په دي ډول سره وركول كيږي چې هغوئ خپل ځانونه ددي روپومكمل مالک اومختارګڼي اوبياپه خوښه رضاسره بغيرله څه جبره هغه روپۍ يادهغوروپوڅه حصه مدرسې ته دچندي په ډول سره وركوي نوداروپۍ دتعميرپه كاركې خرڅول جائزدي ليكن كه محض جوړه شوي حيله كيږي چې طالبان ځان دروپومالک نه ګڼي اوداخيال يې وي چې داروپۍ په هرحال کې مدرسې ته وركول دي يايې په جبرسره وركوي نوداشان كول هيڅ كله جائزنه دي اومهتمم ته تمليک كول نه دي په كارالاداچې څوک زكوة وركونكى مهتمم مستحق زكوة وګڼي اوكوة وركړي نودهغه كه خوښه شوه نوداروپۍ مدرسې ته وركولى شي .(فتاوى عثمانى :۲/۱۶۰)

ف:هغه ديني مدرسې كومې چې دغريبوطالبانودخوراک وغيره بندوبست كوي هغوئ ته له دي تصريح كولوسره زكوة وركول جائزدي چې داروپۍ غريبوطالبانوته نقد يادخوراک اوياجامو په صورت کې وركړئ ،دمدرسينو اوملازمينوپه تنخواګانواودمكان په تعميروغيره کې يې مه مصرفوئ دكومې مدرسې په باره کې چې دااطمينان وي نوهغې ته له زكوة وركولوڅخه وروسته ته عندالله برى يې ليكن دكومې مدرسې په باره کې چې دامعلوم وي چې دامُدّات زكوة په خپل صحيح مصرف کې نه مصرفوي هغې ته په روپووركولوسره ته نه برى كيږي.(فتاوى عثمانى:۲/۱۵۸)

دمدرسي مهتمم دچاوكيل دى ؟

ف:دمدرسې مهتمم دزكوة وركونكووكيل دى نه دطالبانو ،نوكه له مهتمم څخه زكوة ضائع شونوپرهغه به ضمان نه وي اومالک به دوهم ځل زكوة اداء كوي.(معارف القران ،۴/۳۹۹)،دهندپه علماؤكې ځينوناظمان دطالبانو،ځينودزكوة اداء كونكواوځينودداړووكيل تسليم كړي دي ،ددي عاجزخيال دادى چې هغدادريمه رأيه صحيح ،قرين قياس اومبنى براحتياط ده .(جديد فقهى مسائل:۱/۲۲۶)

(۹۲)قوله وقضاء دينه اى لاتصرف الزكوة الى قضاء دين الميت ،يعنى دزكوة په مال سره دمړده قرض اداء كول جائزنه دى يعنى زكوة نه اداء كيږي ولى چې دزكوة په اداء كولوكې تمليک شرط دى حال داچې په قرضه اداءكولوكې تمليک نشته خصوصادمړده په قرض اداء كولوكې ځكه چې په مړى کې دمالک جوړيدلو صلاحيت نشته .

(۹۳)قوله وشراء قن يعتق اى لاتصرف الزكوة الى شراء قن يعتق ،يعنى دزكوة په روپوسره دغلام اخيستل اوبياازادول جائزنه دي ولى چې دغلام په ازادولوسره له غلام څخه دمالک ملكيت ساقطيږي اوسقوط ملک تمليک نه دى حال داچې تمليک دزكوة ركن دى .

(۹۴) قوله واصله وان علاای لاتصرف الزکوة الی اصل المزکی وان علا، یعنی زکوة ورکونکی دخپل مال زکوة به نه خپل پلارته ورکوي اونه نیکه ته اونه له هغه لوړ اصولوته ،اونه به یي خپل اولادته ورکوي ولی چې داملاکو منافع ددوئ ترمنځ سره متصلې اومشترکې وي لهذا کامل تملیک نه متحقق کیږي حال داچې تملیک رکن دی.

(۹۵) قوله وزوجته ای لایدفع الرجل الزکوة الی زوجته ولاالزوجة الی زوجها، یعنی دخاوندا وښځې ترمنځ هم دا اصول اوفروعو په شان منافع مشترکې وي لهذا خاوند خپلې ښځې ته زکوة ورکول جائزنه دي له همدي وجه دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد ښځه هم خپل خاوندته زکوة نشي ورکولای مګرد صاحبینو رحمهما الله تعالی په نزد ښځې خپل خاوندته زکوة ورکول جائزدي دصاحبینو رحمهما الله تعالی دلیل دادی چې دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ښځې له نبی کریم ﷺ څخه پرخپل خاوند دصدقې په باره کې پوښتنه وکړه نونبي کریم ﷺ وفرمایل: ﴿لکِ في ذلکَ أجرانِ أجرُ الصَّدَقةِ وأجرُ الصِّلةِ﴾ (یعنی ستاسې پاره دوه اجره دي یو دصدقې اودوهم دصله رحمی)، صاحبینوته ځواب ورکړل شوي دی چې داحدیث شریف په نفلي صدقه محمول دی لهذا فرض زکوة خاوندته ورکول جائزنه دي.

ف: دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی: کمافی محیط البرهانی: ولایعطی زوجه بلاخلاف بین اصحابنا وکذا لاتعطی المرأة زوجها عند ابی حنیفة لماقلنا وعندهما تعطیه لماروی وابوحنیفة یحمل الحدیث علی الصدقة النافلة (محیط البرهانی: ۳/۲۱۳)

(۹۶) قوله وعبده ومکاتبه الخ ای لایدفع المزکی الزکوة الی عبده ومکاتبه الخ، یعنی زکوة ورکونکی به خپل غلام، مکاتب، مدبرا وخپلې ام ولد ته زکوة نه ورکوی ځکه چې تملیک نه راځې په دي وجه چې دمملوک ګټه دمولی ده اومکاتب دبدل کتابت داخری درهم تراداء کولو پورې مملوک شمارل کیږي لهذا دهغه په ګټه کې دمولی حق دی نودوئ ته زکوة ورکول ګواکې خپل ځان ته زکوة ورکول دي لهذا دتملیک دنه تام والی له کبله جائزنه دی.

(۹۷) قوله ومعتق البعض ای لایدفع الی عبده الذی اعتق بعضه ،یعنی دکوم غلام چې بعض حصه ازاده وي هغه ته زکوة ورکول جائزنه دي مثلا یوکس دغلام جزء شائع ازاد کړ، یایو غلام ددوو کسانو سره مشترک وو په دوئ کې یوه خپله حصه ازاده کړه دوهم شریک له ده څخه دخپلې حصې ګټل اختیار کړل نو دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد داغلام ددي شریک اخرپه حق کې دمکاتب په منزله کې دی اوخپل مکاتب ته زکوة ورکول جائزنه دي کمامر، لهذا ددي شریک اخرهم دي غلام ته زکوة ورکول جائزنه دي حال داچې دصاحبینو په نزد داغلام اوس مکمل ازاد شمارل کیږي هو ددي شریک اخرمقروض دی اوخپل مقروض ته زکوة ورکول جائزدی.

ف: دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی کمافی الشامیة: (قوله واما المشترک) قال فی البحر ولوکان بین اثنین فاعتق احدهما حصته وهو معسر واختار الساکت الاستسعاء فللمعتق الدفع لانه مکاتب لشریکه ولیس للساکت الدفع لانه مکاتبه (ردالمحتار: ۲/۷۰)

(۹۸) وَغنِيٍّ يملكُ نِصاباً (۹۹) وَعبدِهِ وَطِفْلِهِ (۱۰۰) وبني هاشمٍ (۱۰۱) وَموالِيهِمْ (۱۰۲) وَلَوْ دَفَعَ بِتَحَرٍّ فبانَ أَنّهُ غَنِيٌّ او هاشِميٌّ او مولاهُ او كافِرٌ او أَبُوهُ او ابنُهُ صَحَّ (۱۰۳) وَلَوْ عَبدُهُ او مُكاتَبُهُ لا (۱۰۴) وَكُرِهَ الإِغْناءُ وَنُدِبَ عَنِ السُّؤالِ (۱۰۵) وَكُرِهَ نَقْلُها إِلَى بَلَدٍ آخَرَ لِغَيرِ قَرِيبٍ وَأَحْوَجَ (۱۰۶) وَلا يَسْأَلُ مَنْ لَهُ قُوتُ يَوْمِهِ

ترجمه: او داسې غنی ته (دي زکوة نه ورکوي) کوم چې د نصاب مالک وي، او دغني غلام ته او دغني کوچنۍ بچی ته، او بني هاشم ته، او د دوئ ازاد کړل شويو غلامانو ته، او که يې زکوة ورکړله سوچ وروسته بيا ښکاره شو چې هغه خو غني يا هاشمي يا کافريا د زکوة ورکونکی پلار يا زوی دی نو صحيح دی، او که هغه د زکوة ورکونکی غلام يا مکاتب وي نو صحيح نه دی، او مکروه ده د فقير غني کول او مستحب ده له سوال څخه مستغني کول، او مکروه ده منتقل کول د زکوة بل ښار ته د غير قريب او غير محتاج لپاره، او سوال دي نه کوي هغه چې له ده سره خوراک وي د يوې ورځې.

تشريح: (۹۸) قوله وغنی يملک ای لايدفع المزکی الزکوة الی غنی يملک نصابا، يعنی زکوة ورکونکی دي داسې شخص ته زکوة نه ورکوي چې هغه غني وي (يعنی د کوم نصاب مالک وي) ﴿ لقوله ﷺ لا تحل الصدقة لغنى ﴾ (يعنی غني ته زکوة اخيستل حلال نه دي).

(۹۹) قوله وعبده ای لايدفع الی عبدالغنی، يعنی د غني شخص غلام ته هم زکوة ورکول جائز نه دي ځکه چې د مملوک مال د مولی ملک وي نو د غني مملوک ته زکوة ورکول غني ته زکوة ورکول دي کوم چې جائز نه دی، همدا شان د غني شخص نابالغ کوچني بچی ته زکوة ورکول جائز نه دي ولې چې نابالغ د خپل پلار د مال له وجه غني شمارل کيږي البته بالغ اولاد د پلار د غناء له کبله غني نه شمارل کيږي په دي وجه که د غني بالغ اولاد فقيروي نو هغوئ ته زکوة ورکول جائز دي.

(۱۰۰) قوله وبني هاشم ای لايدفع الی بنی هاشم، يعنی بنوهاشم ته زکوة ورکول جائز نه دی ﴿ لقوله ﷺ ان هذه الصدقات إنما أوساخ الناس وإنها لا تحل لمحمد ولا لآل محمد ﴾ (يعنی صدقات د خلکو خيري دي او دا محمد ﷺ او د آل محمد ﷺ ته حلال نه دي). له بنوهاشم څخه مراد حضرت علي ؓ او د هغه اولاد، حضرت عباس ؓ او د هغه اولاد، حضرت جعفر ؓ او د هغه اولاد، حضرت عقيل ؓ او د هغه اولاد او حارث ؓ بن عبدالمطلب او د هغه اولاد دی.

ف: د بنوهاشم مذکوره څلورو طبقو لپاره صدقه د دوئ د اکرام په وجه حرامه شوي ده ځکه چې هغوئ د جاهليت او اسلام په دواړو زمانو کې د نبي کريم ﷺ نصرت او مدد کړی دی باقي ابولهب او د هغه اولاد هم له بنوهاشم څخه دي مګر څرنګه چې ابولهب نبي کريم ﷺ ته تکليفونه رسولي وو په دي وجه هغه او د هغه اولاد دي اکرام مستحق نه دي سره له دي چې د هغه اولاد وروسته مسلمان شوی وو لهذا د دوئ لپاره صدقه حلاله ده کمافي الشامية: قال في الحواشي السعدية ان آل ابي لهب ينسبون ايضا الى هاشم وتحل لهم الصدقة فان من اسلم من اولاد ابي لهب غير داخل لعدم قرابته وهذا احسن جدا (ردالمحتار: ۲/۷۲)

ف: د مفتی به قول مطابق ساداتو ته زکوة ورکول جائز نه دي همدا شان د ساداتو په خپل منځ کې يو بل ته زکوة ورکول هم جائز نه دي په دي باره کې د حضرت مولانا مفتی محمد شفيع نورالله مرقده فتوی ملاحظه کړئ، فرمايي: ظاهر مذهب او مفتی به مذهب حنيفيه دادی چې ساداتو ته زکوة ورکول جائز نه دي په درمختار کې دي، ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع قوله اطلاق المنع يعنی سواء في ذالک کل الازمان وسواء في ذالک دفع بعضهم لبعض ودفع غيرهم لهم الخ (عزيز الفتاوی: ۱/۳۶۱)

(۱۰۱)قوله وموالیهم ای لایدفع الی موالی بنی هاشم ،یعنی دبنوهاشم ازاده کړل شوی غلام ته هم زکوة ورکول جائزنه دي ځکه چې ددوئ غلام دحرمت زکوة په حق کې پخپله ددوئ (بنوهاشم)په حکم کې دی ﴿ لقوله ﷺ وَإِنَّ مولى القَوْمِ من أنفُسِهِمْ إِنَّ الصَّدَقَةَ لا تحلُّ لنا ﴾(یعنی دکوم قوم مولی دهغه قوم کس وي اوموږ لپاره صدقه حلاله نه ده).

(۱۰۲)یعنی که مزکی (زکوة اداء کونکي)چاته زکوة ورکړاودهغه غالب گمان داوو چې دادزکوة مصرف دی بیامعلومه شوه چې هغه کس خویاغنی دی یاهاشمی دی یاکافردی ،یایې دشپې په تاریکې کې زکوة ورکړبیابښکاره شوه چې ده خپل پلاریاخپل زوی ته زکوة ورکړی دی نو دطرفینو په نزد دمزکی زکوة اداء شوپرده دوهم ځل زکوة اداء کول لازم نه دي.

ف:دامام ابویوسف رحمه الله په نزدزکوة نه ده اداء شوی لهذادوهم ځل زکوة ورکول لازم دي ، ولې چې دده خطاء په یقین سره ښکاره شوه اودمزکی لپاره دچادزکوة مصرف والی یانه مصرف والی علم حاصلول ممکن هم وو اوس چې ده دزکوة نه مصرف والی معلوم نه کړنودا غفلت دمزکی له طرفه دی په دي وجه دغلطی په صورت کې اعاده لازمه ده ،دطرفینودلیل دادی چې معن بن یزید رضی الله عنه فرمایې چې زماپلاریزید رضی الله عنه څه اشرفی راواخیستې ترڅوهغه صدقه کړي نودایې په مسجدکې له یوه شخص ته کښېښودي بیامادااشرفی رواخیستې اوراغلم نوزماپلارروویل والله ماستانیت نه وو کړی نوما دامعامله په دربار رسالت کې وړاندي کړه نونبی کریم ﷺ وفرمایل ای یزیده ستالپاره هغه ثواب دی کوم چې تانیت کړی وو اواي معنه !ستالپاره داشرفیانې دي کومې چې تااخیستې دي ،نوپه حدیث کې دانشته چې نبی کریم ﷺ یزیدته دزکوة داعادي حکم وکړلهذامعلومه شوه چې که په غیرمصرف کې دزکوة له اداءکولوڅخه وروسته دغیرمصرف والی علم حاصل شونوپرمزکی باندي اعاده زکوة واجبه نه ده.

ف:دطرفینوقول راجح دی کمافی الدرالمختار:دفع بتحرفبان انه عبداومکاتبه اوحربی ولومستامنااعادهاوان بان غناه اوکونه غنیا اواله ابوه اوابنه اوامرأته اوهاشمی لایعید لانه اتی بمافی وسعه حتی لودفع بلاتحرلم یجزان اخطا(الدرعلی هامش الشامیة:۲/۷۴)

(۱۰۳)قوله ولوعبده اومکاتبه لا ای لوظهران المدفوع الیه عبدالمزکی اومکاتبه فلایصح ،یعنی که زکوة ورکونکی یوځوک مصرف زکوة وگڼی اوکوة یې ورکړبیامعلومه شوه چې هغه خودده غلام وو یادده مکاتب وو نودده زکوة نه اداء کیږي ولې چې په غلام کې دمالک والی اهلیت معدوم دی په دي وجه تملیک معدوم شوحال داچې تملیک رکن دی،اوخپل مکاتب ته دزکوة ورکولوپه صورت کې هم زکوة نه اداء کیږي ځکه چې مکاتب دزکوة ورکولوپه صورت کې تملیک کامل نه دی ولې چې دمکاتب گټه دمولی حق وي.

(۱۰۴)یعنی کوم فقیرته دومره زکوة ورکول چې په هغه سره فقیرغنی شي مکروه دی مثلافقیرته دوه سوه درهمه ورکول مکروه دي ولې چې دوه سوه درهمه دسپینوزرونصاب دی اودنصاب مالک غنی شمارل کیږي البته زکوة زکوة اداء کیږي ځکه چې فقیرته له زکوة ورکولوڅخه وروسته فقیرغنی کیږي لهذا بوقت اداء دده دفقیروالی په وجه سره زکوة ورکول جائزدی اوکوة اداء کیږي ،قوله وندب عن السوال .یعنی فقیرته دومره زکوة ورکول مستحب دی چې هغه له سوال کولوڅخه مستغنی شي ځکه چې سوال کول ذلت دی لهذاپه دومره اندازه ورکولوسره فقیرله دي ذلت څخه بچ پاتې کیږي.

ف:مګر کراهت هغه وخت دی چې هغه ذی عیال نه وي اومقروض نه وي نوکه دچاعيال وو نو هغه ته دومره زکوة ورکول چې که هغه دهغه پرعیال تقسیم کړای شي نوهریوه ته له دوسوه درهمه څخه لږ رسیږي بلاکراهته جائزدی همدا حکم په دي صورت کې هم دی چې مقروض ته دومره زکوة ورکول چې له قرض اداء کولو څخه وروسته له ده سره تردوه سوه لږدرهم پاتې شي ،کمافی شرح التنوير:(الااذاكان)المدفوع اليه(مديونااو)كان)صاحب عيال)بحيث(لوفرقه عليهم لايخص كلا) اولايفضل بعددينه.(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۲/۷۳)

ف:دامام زفر رحمه الله په نزد فقیرته په بقدرنصاب زکوة ورکولوسره زکوة نه اداء کیږي ولی چې په دي صورت کې غنی له اداء سره مقارنه ده نوګویاغنی شخص ته دزکوة ادائیګی وشوه حال داچې غنی ته په زکوة ورکولوسره زکوة نه اداءکیږي، امام زفر رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې غنی کیدل دزکوة داداء حکم دی اوحکم شی له شي څخه وروسته وی لهذا غنی له اداء څخه وروسته ده اوداداء په وخت کې فقیردی لهذازکوة فقیرته ورکړل شوی دی په دي وجه زکوة اداء کیږي مګردمقارنت غنی له وجه څخه مکروه دی لکه دنجاست سره قریب چې لمونځ کول مکروه دی.

ف:که دائن دمدیون مفلسې اودخوارحالت په لیدلوسره خپل پوراوقرض ده ته په زکوة کې ورمعاف کړي نودتملیک دنه وجود له وجه په دې شان سره زکوة نه اداءکیږي اوکه ده ته دزکوة روپی ورکړي اوبیایې پخپله قرضه کې وصول کړي نوپه دي شان کولو کې څه حرج نشته .(حقانیه :۴/۷۲)

(۱۰۵)یعنی دزکوة مال له ښار څخه بل ښارته منتقل کول مکروه دي بلکه له کوم قوم څخه چې زکوة اخیستل شوی دی دهغه قوم پرفقیرانوتقسیمول په کاردي ولی چې نبی کریم ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه ته فرمایلي وو خذهامن اغنیائهم (ای المسلمین) وردهافی فقرائهم(ای المسلمین)(یعنی زکوة دمسلمانانو له مالدارانو څخه واخله اودهمدوئ فقیرانوته یې ورکړه)مطلب دادی چې دکوم ځای له مالدارانو څخه زکوة اخیستل شوی دی دهغه ځای په فقیرانودي تقسیم کړای شي ،هوکه په بل ښارکې دمزکی قریبان اوسیدل نوهغوئ ته منتقل کول مکروه نه دي ولی چې په دي کې له ثواب زکوة څخه علاوه صله رحمی هم ده .یادبل ښارخلک ډیرمحتاج وي نوهم دزکوة په منتقل کولو کې څه کراهت نشته ولی چې له زکوة څخه مقصوددمحتاج حاجت دفع کول دي نوکوم کس چې ډیرمحتاج وي هغه زیات مستحق دی.

(۱۰۶)له چاسره چې دیوې ورځې خوراک وي هغه دي سوال نه کوي یعنی دداسې کس لپاره سوال کول جائزنه دي ﴿ لقوله ﷺ من سال الناس عن ظهرغنى فانه يستكثر جمر جهنم قلت يارسول الله وماظهرغنى قال ان يعلم ان عنداهله مايغديهم ومايعشيهم ﴾(یعنی کوم شخص چې سره له غنی سوال کوي ګویاهغه دجهنم دسکروټوسوال کوي ماوویل یارسول الله ﷺ غنی څه ده ؟نبی کریم ﷺ وفرمایل غنی داده چې څوک په دي پوهیږي چې دده په کورکې دسهاراوماښام خوراک شته).

ف:مګرددي مطلب دادی چې که له چاسره دیوي ورځې غذاوه هغه دي دغذاسوال نه کوي که له غذا څخه ماسوادده کوم بل شی مثلاًجامووغیره ته ضرورت وو نوده لره دجاموسوال کول جائزدی کمافی شرح التنوير:(ولا)يحل ان(يسال) شيئامن القوت (من له قوت يومه)قال ابن عابدين: قيدبقوله شيئامن القوت لان له سؤال ماهومحتاج اليه غير القوت كثوب.(الدرالمختارمع ردالمحتار:۲/۷۵)

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

داباب دصدقة الفطرپه بيان كې دى

فطرله فطرة څخه مأخوذدى دنفس اوخلقت په معنى سره ،څرنګه چې صدقه دهرنفس له طرفه څخه وركول كيږي په دي وجه دي ته صدقة الفطرويل كيږي .دصدقة فطراوكوة په منځ كې مناسبت ظاهردى چې دواړه عبادات ماليه دي ليكن دزكوة درجه اعلى ده ولى چې داپه كلام الله سره ثابت دى ځكه يې زكوة مختم كړ.

په صدقة الفطركې اضافة له قبيلې داضافة دشي الى شرطه دى لكه چې په حجة الاسلام كې دى ،ياله قبيلې داضافة الشئ الى سببه دى لكه په حج البيت اوصلوة الظهركې ،دصدقة الفطرسبب، رأس دى اوشرط فطردى ،اوله صدقې څخه مرادهغه عطيه ده له كومې څخه چې مقصودثواب وي . (الجوهرة النيرة ۱/۳۲۰)

الحكمة :ان الصائم بامتناعه عن الطعام فى بياض نهاره فى رمضان عرف مقدارحرارة الجوع فهويطعم الفقير والبائس المسكين فى هذااليوم المبارك شكرالله تعالى على نعمة الغنى اذلم يحوجه الى احدفى هذااليوم العظيم الذى يكون فيه المسلمون فى سرور وحبورفاعطاء زكوة الفطر للفقير والمسكين فيه رفع لمشقة الجوع وتخفيف التأثير الذى يكون فى نفس الفقير اذيرى غيره فى هذااليوم فى زينة من الملبس وشبع من الدسم وقدقال ﷺ (اغنوهم عن المسالة فى مثل هذااليوم)، (حكمة التشريع)

(۱۰۷)تَجِبُ على كل حُرٍّ مُسْلِمٍ ذِي نِصَابٍ فَضَلَ عن مَسْكَنِهِ وَثِيَابِهِ وَأَثَاثِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَعَبِيدِهِ(۱۰۸)عن نَفْسِهِ وَطِفْلِهِ الْفَقِيرِ وَعَبْدِهِ لِلْخِدْمَةِ وَمُدَبَّرِهِ وَأُمِّ وَلَدِهِ(۱۰۹)لَا عن زَوْجَتِهِ وَوَلَدِهِ الْكَبِيرِ

ترجمه :صدقه فطرواجب ده پرازادمسلمان باندي كوم چې دداسې نصاب مالک وي كوم چې دده له مسكن څخه اودده له جامو څخه اودده له اسبابو څخه اودده له آس څخه اودده له اسلحې څخه اودده له غلام څخه زائدوي دخپل ځان له طرف څخه ،دخپل فقيربچي له طرف څخه ،اودخپل خدمتكارغلام له طرف څخه اودخپل مدبرله طرف څخه اودخپلې ام ولد له طرف څخه دي اداء كړي ،نه دخپلې ښځې له طرفه اودخپل لوى زوى له طرف څخه .

تشريح :(۱۰۷)يعنى صدقه فطرواجب ده مګرددي لپاره څه شرطونه دي .نمبر۱.ازادوالى، نمبر۲.مسلمان والى،نمبر۳.دمقدارنصاب مالک والى.نمبر۴.دده له كور،جامو،كورنى سامان ، دسورتيا له اسه ،اسلحې اودخدمت له غلامانو څخه به فاضل وي،صدقه فطرله ځكه واجب ده چې نبى كريم ﷺ په خپله خطبه كې وفرمايل﴿ أَدُّوا عن كل حُرٍّ وَعَبْدٍ الخ ﴾ (يعنى له هرازاداوغلام څخه صدقه اداءكړئ)څرنګه چې ادوا امردى اوخبرواحددى په دي وجه له دي څخه وجوب ثابتيږي، اودازادوالى شرط په دي وجه دى ترڅوتمليک متحقق شي ځكه چې غلام خوپخپله مالک نه دى بل څوک به څرنګه مالک جوړكړي ،دمسلمان والى شرط په دي وجه دى چې صدقة الفطرعبادت دى اوكافر دعبادت اهل نه دى لهذا دكافرپه اداء كولوسره ثواب نشته ،اودنصاب مالک والى په دي وجه شرط دى چې نبى كريم ﷺ فرمايلي دي﴿ لَا صَدَقَةَ إِلَّا عن ظَهْرِ غِنًى﴾ (يعنى صدقة الفطرنشته مګرپه غنى سره)او دصدقة الفطرپه نصاب كې داشرط هم نشته چې نامى به وي بلكه دغيرنامى نصاب پرمالک باندي هم صدقه فطرواجب ده ،اوله جامووغيره څخه دزائدوالى شرط په دي وجه دى چې داشيان په حاجت اصليه سره مشغول دي اومشغول بحاجت اصليه معدوم شمال كيږي.

ف:د سرو او سپینو زرو ،مال تجارت او په کور کې د روزمره استعمال له شیانو څخه د زائد سامان قیمت به ولګوی او له دې سره به نغدې یو ځای کړې ددې ټولو مجموعه یا که له دوی څخه د بعض ۸۷،۴۷۹ ګرامه سروزرو یا ۶۱۲،۳۵ ګرامه سپینو زرو سره برابر شې نو صدقة الفطر واجب ده،له دریو جوړو جامو څخه زائد لباس او دریډیو او ټیلویژن په شان خرافات په انسانی حاجتونو کې داخل نه دي په دې وجه به د هغوی د قیمت حساب هم کیږي.(احسن الفتاوی: ۴/۳۸۳)

(۱۰۸)قوله عن نفسه الخ ای یجب اخراجها عن نفسه الخ ،یعنی صدقه فطر دې له خپله طرفه څخه او د خپل نابالغ اولاد له طرفه څخه اداء کړي ولی چې د صدقة الفطر سبب داسې رأس او ذات دی په کوم چې انسان خرچه کوي او په هغه متولی وي او انسان پر خپل ځان او نابالغ اولاد خرچه کوي او متولی وي،او مولی دې د خپلو غلامانو ،مدبرانو او خپلې ام ولدی له طرفه صدقه فطر اداء کړي ولی چې د دوی خرڅه هم مولی برداشتوي او پر دوی ولایت هم مولی ته حاصل دی .

(۱۰۹)قوله لاعن زوجته وولده الکبیر ای لاتجب علی الرجل عن زوجته وولده الکبیر ،یعنی پر خاوند د خپلې ښځې او پر پلار د خپل بالغ اولاد له طرفه صدقه فطر اداء کول واجب نه دي که څه هم هغه د هغه په عیال کې داخل وي ولی چې خاوند لره په ښځه چې کوم ولایت حاصل دی هغه ناقص دی ځکه چې د نکاح له امورو څخه علاوه خاوند ته پر ښځه هیڅ ولایت حاصل نه دی،همداشان پلار لره په خپل بالغ اولاد کوم ولایت حاصل نه دی بلکه هغه د خپل نفس په باره کې خود مختار دی.

ف:که خاوند د ښځې او پلار د خپل اولاد له اجازې بغیر فطره اداء کړه نو استحساناً اداء کیږي په دې شرط چې هغه دده په اولاد کې وي ولی چې عادة اجازه ثابته ده او کوم شی چې عادة ثابت وي هغه داسې لکه چې صراحة ثابت وي کمالی شرح التنویر: ولو ادی عنهما(زوجته وولده الکبیر)بلااذن اجزأه استحساناللاذن عادة ای لوفی عیاله والافلا،قال ابن عابدین (قوله لوادی عنهما)ای عن الزوجة والولدالکبیروقا ل فی البحروظاهرالظهیریة انه لوادی عمن فی عیاله بغیرامره جازه مطلقابغیرتقییدبالزوجة والولد(الدرالمختار مع ردالمحتار: ۲/۸۲)

(۱۱۰)وَمُكَاتَبِهِ(۱۱۱)وَعَبْدٍ اَوْعَبِيدٍ لَهُمَا(۱۱۲)وَيَتَوَقَّفُ لَوْ مَبِيعًا بِخِيَارٍ(۱۱۳)نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ اَوْ دَقِيقِهِ اَوْ سَوِيقِهِ اَوْ زَبِيبٍ اَوْ صَاعٍ مِنْ تَمْرٍ اَوْ شَعِيرٍ(۱۱۴)وَهُوَ ثَمَانِيَةُ اَرْطَالٍ(۱۱۵)صُبْحَ يَوْمِ الْفِطْرِ فَمَنْ مَاتَ قَبْلَهُ اَوْ اَسْلَمَ اَوْ وُلِدَ بَعْدَهُ لَاتَجِبُ(۱۱۶)وَصَحَّ لَوْ قَدَّمَ اَوْ اَخَّرَ

ترجمه :او د خپل مکاتب له طرف څخه (صدقه ورکول واجب نه دي)،او د یو یا څو مشترک غلامانو له طرف څخه،او موقوف به وي که یې خرڅ کړ سره له خیاره ،نصف صاع غنم دي ورکړي یا د دې اوړه یا ستو یا کشمش یا یو صاع خرما وي یا اوربشې ،او صاع اته رطله ده ،د عید الفطر په سهار نو که کوم شخص وفات شو له دې څخه مخکې یا مسلمان شو یا پیدا شو له دې څخه وروسته نو پر هغه باندې واجب نه ده ، او صحیح ده که یې له دې څخه وړاندې ورکړه یا یې وروسته ورکړه .

تشریح :(۱۱۰)قوله ومکاتبه ای لاتجب علی المولی عن مکاتبه ،یعنی پر مولی باندې د مکاتب صدقة الفطر واجب نه ده ولی چې مولی لره پر مکاتب باندې کامل ولایت حاصل نه دی.(۱۱۱)قوله وعبداوعبیدلهماای لاتجب عن عبداوعبیدمشترکین بینهما، یعنی که یو غلام یا ډیر غلامان د دوو شریکانو سره شریک وو نو پر شریکانو کې پر یوه هم د دې غلام صدقة الفطر واجب نه ده ولی چې د دواړو ولایت هم ناقص دی او مؤنت هم ناقص دی.

(۱۱۲)قوله ویتوقف لومبیعابخیاراي یتوقف وجوب صدقة الفطرلوکان المملوک مبیعابخیار، یعنی که کوم غلام په شرط دخیارسره خرڅ شوکه خیاربائع لره وي اوکه مشتري لره نودده صدقة الفطربه موقوف وي بیاکه مشتري واخیستی نوصدقة فطرپرمشتری باندي واجب ده اوکه یې پریښودی نوپرمالک باندي واجب ده ځکه چې صدقة الفطرپرملک باندي مبنی ده اوملک موقوف دی لهذاصدقة الفطربه هم موقوفه وي.

(۱۱۳)قوله نصف صاع ،مرفوع ده دمبتداء محذوف لپاره خبردی ای هی نصف صاع ،یادتجب له فاعل څخه بدل ده ای تجب الصدقة نصف صاع ،یعنی که یې په غنمویادهغوپه اوړویاستو اویاکشمشوسره صدقه فطراداء کوله نودحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزددي نیمایې صاع اداء کړي اوکه یې په خرمایااوربشوسره اداء کوله نویوه صاع (بحساب درهم ۲۷۰تولې اوبحساب مثقال ۲۷۳تولې)به ورکوي ﴿لقوله ﷺ أدوا عن کل حر او عبد صغیر او کبیر نصف صاع من بر او صاعا من تمر او صاعا من شعیر ﴾ (یعنی صدقه فطردهرغلام اوازادله طرفه اداء کړئ خواه که صغیروي یاکبیرنیمه صاع دغنمویایوه صاع داوربشو)همدادجمهورصحابه کرامو ﷺ اوخلفاءراشدینواوابن مسعوداوابن عباس اوحضرت ابن زبیر ﷺ مذهب دی ،دصاحبینوپه نزدکشمش ،داوربشواوخرماوپه حکم کې دي ځکه چې کشمش اوخرماوي په مقصودیعنی تفکه اوخوړتیاحاصلولوکې سره نژدې دي ،دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدکشمش دغنموپه حکم کې دي ولې چې په دوئ دواړوکې هریوله خپلوتماموااجزاءوسره خوړل کیږي ،پاته شوه خرمااواوربشې نودخرماوو منده که غورځول کیږي اوداوربشوبوسه ایستل کیږي نوکشمش پرغنموقیاسول مناسب دي نه په اوربشواوخرماوو باندي .

ف:دصاحبینوقول مفتی به دی کمافی الدرالمختار:وجعلا(ای الصاحبان الزبیب)کالتمروهوروایة الامام وصححه البهنسی وغیره وفی الحقائق والشرنبلالیة عن البرهان وبه یفتی ،وقال ابن عابدین :لکن الصاع من الزبیب منصوص علیه فی الحدیث فلاتعتبرفیه القیمة (الدرالمختارمع الشامیة:۲/۸۳)،وقال الشیخ عبدالحکیم الشهید:واعلم انه روی عن الامام ابی حنیفة فی زبیب روایتان فی روایة جعله کالحنطة وفی الاخرجعله کالتمروهوالمختاروعلیه الفتوی لانه اذااختلفت الروایات عن الامام یؤخذبمااخذبه الصاحبان لان لهماالمقام بعده (هامش الهدایة:۱/۱۹۲)

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدپه پورته مذکوره شیانوکې چې په کوم یوه سره هم صدقه فطراداء کوي نوپوره صاع به ورکوي حتی که یې غنم ورکول هم به پوره صاع ورکوي ځکه چې حضرت ابوسعیدخدری ﷺ فرمایې :﴿کنانخرج علی عهدرسول الله صلی الله علیه وسلم صاعامن طعام او صاعامن شعیر او صاعامن تمر او صاعا من أقط ﴾ (یعنی موږدنبی کریم ﷺ په زمانه کې صدقه فطرورکوله دطعام یوه صاع یاداوربشویوه صاع یادخرماوو یوه صاع یادکشمشویوه صاع یادپنیریوه صاع)،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې دحضرت ابوسعیدخدری ﷺ په حدیث کې بې شکه دیوې صاع ذکردی مګرصحابه کرامو ﷺ احتیاطایوه صاع اداء کوله لدې څخه نصف بطورواجب اونصف بطورتبرع اداء کوله حال داچې زموږکلام په وجوب کې دی.

(۱۱۴)یعنی دطرفینوپه نزدصاع اته عراقی رطله ده یعنی په کومه کې چې داتوررطلودوزن په اندازه سره غنم وغیره ځایږي،اودامام ابویوسف رحمه الله په نزدصاع پنځه رطله اودیوه رطل دریمه برخه ده،دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دنبی کریم ﷺ ارشاددی﴿صاعنا أصغر الصیعان﴾(یعنی زموږصاع ترټولو صاعوڅخه

کوچنی ده)اوظاهره ده چې دپنځه رطله اوثلث رطل والاصاع تراته رطله والاصاع څخه کوچنی ده ،دطرفینورحمهما الله تعالی دلیل دحضرت جابر ﷺ روایت دی چې ﴿ انه ﷺ يتوضأ بمد رطلين ويغتسل بالصاع ثمانية أرطال﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ په دوه رطله اوبوسره اودس کاوو اوپه یوه صاع یعنی اته رطله اوبوسره یې غسل کاوو)نوله دې حدیث څخه معلومه شوه چې صاع اته رطله ده .

ف:ځینې حضرات فرمایې چې دطرفینو او امام ابویوسف رحمه الله ترمنځ اختلاف حقیقی نه دی بلکه لفظی دی ځکه چې امام ابویوسف رحمه الله دصاع اندازه په مدنی رطل سره کړې ده کوم چې دیرش استاره (یو استار شپږ درهمه اویو دانق وي او دانق د درهم دشپږمې برخې یوه سکه ده)ده او صاع عراقی شل استاره ده نوکله چې داته عراقی رطلو والاصاع دپنځو رطلو او ثلث رطل والاله صاع سره موزانه وکړل شي نو دواړه سره برابري دي ،همدا صحیح معلومیږي ځکه چې امام محمد رحمه الله د امام ابویوسف رحمه الله د اختلاف ذکر نه ده کړی که واقعی دا امام ابویوسف رحمه الله اختلاف وای نو امام محمد رحمه الله به ضرور ذکر کاوو کمافی فتح القدير:وقيل لاخلاف بينهم فان ابويوسف لماحرره قدره وجده خمسة وثلثا برطل اهل المدينة وهو اكبر من رطل اهل بغداد لانه ثلاثون استاروالبغدادی عشرون وهو الاشبه لان محمدا لم يذكر في المسئلة خلاف ابی يوسف.(فتح القدير: ٢/٢٣١)

(١١٥)قوله صبح يوم الفطر،منصوب على الظرفية والعامل فيه تجب ای تجب صدقة الفطر فی صبح يوم الفطر ،یعنی زموږ په نزد دعید الفطر له صبح صادق څخه صدقة الفطر اداء کول واجبیږي ﴿لحديث ابن عمر ﷺ قال كان رسول الله ﷺ يامرنا ان نخرجها قبل الصلوة وكان رسول الله ﷺ يقسمها قبل ان ينصرف الى المصلى ويقول اغنوهم عن الطواف في هذا اليوم﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ موږ ته حکم کاوو چې موږ له عید الفطر څخه وړاندې صدقه فطر اداء کړو او پخپله نبی کریم ﷺ به عیدګاه ته له تللو څخه وړاندې صدقه تقسیموله اوفرمایل به یې چې فقراء نن ورځ په کورنوله طواف کولو څخه بې نیازه کړئ)نو که کوم کس دعید الفطر له صبح صادق څخه وړاندې وفات شو یا فقیر شې نو پر ده صدقه فطر واجب نه ده همدا شان که کوم کافر له طلوع فجر څخه وروسته مسلمان شو یا کوم بچی له طلوع فجر څخه وروسته پیدا شو نو په ده هم صدقه فطر واجب نه ده ځکه چې په دې دواړو صورتونو کې دوجوب صدقه سبب موجود نه دی .

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزد دصدقه فطر دوجوب اداء وخت له غروب افتاب څخه شروع کیږي ځکه چې دصدقه فطر دوجوب سبب په فطر پسې مختص ده او فطر یعنی دروژې ماتولو وخت له غروب افتاب څخه شروع کیږي په دې وجه وویل شول چې دصدقه فطر وجوب اداء درمضان داخري ورځې له غروب سره متعلق دی نو ده په نزد که داختر په شپه له صبح صادق څخه وړاندې کوم کافر مسلمان شو یا کوم بچې پیدا شو نو پر ده صدقه فطر واجب نه ده ،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې صدقه فطر بې شکه له فطر سره مختص ده مګر له فطر څخه مراد دصوم ضد دی او دصوم تعلق له ورځې سره وي نه له شپې سره لهذا دفطر تعلق به هم له ورځې سره وي نه له شپې سره ،او دورځې شروع له صبح صادق څخه کیږي نوه له غروب افتاب څخه لهذا دصدقه فطر وجوب اداء به هم له صبح صادق سره متعلقه وي .

ف:دصدقه فطريه اداءكولوكې مستحب داده چې خلګ دې عيدګاه ته ترتللووړاندې اداء كړي ترڅودفقراءو زړونه داخترد لمانځه لپاره فارغ شي كمافي شرح التنوير:(ويستحب اخراجهاقبل الخروج الى المصلى بعدطلوع فجر الفطر)عملابامره وفعله ﷺ (الدر المختار على هامش رد المحتار:٢/٨٥)

(١١٦)يعنې كه يې صدقه فطر داخترله ورځې وړاندې اداء كړه نوهم جائزده ولې چې سبب وجوب ثابت دى(يعنې داسې رأس اوذات پركوم چې انسان خرڅ كوي اوپرهغه متولى وي)لهذا داد پيشګى زكوة اداءكولو سره مشابه ده ،اوكه چا صدقه فطر داختر له ورځې ځنه مؤخر كړه نو داد ده له ذمې ځنه نه ساقطيږي بلكه پرده به واجبوي اوپرده به ددې اداء كول لازم وي ځكه چې دامعقول قربت مالى دى نودابه دزكوة په شان له وجوب ځنه وروسته نه ساقطيږي الاداچې اداء يې كړي.

ف:صدقة الفطرله رمضان شريف ځنه وړاندې په اداءكولوكې اختلاف دى ليكن اصح قول دادى چې له رمضان شريف ځنه وړاندې اداء كول يې هم جائزدي كه څه هم ښه داده چې دعيد الفطريه ورځ اداء شي كمافي الدر المختار:وصح ادائها اذاقدمه على يوم الفطراواخره بشرط دخول رمضان في الاول هوالصحيح وبه يفتى جوهرة وبحرعن الظهيرية لكن عامة المتون والشروح على صحة التقديم مطلقا وصححه غيرواحد ورجحه في النهر ونقل عن الولو الجية انه ظاهر الرواية قلت فكان هو المذهب ،وقال ابن عابدين:فان المانعين جمع يسير والمجوزين جم غفير والاعتماد على ماعليه الجم الكثير (الدر المختار مع الشامية:٢/٨٥)

كِتَابُ الصَّوْمِ

داكتاب دروژې په بيان كې دى

صوم په لغت كې دمطلق امساك په معنى دى خواه كه له هرشي ځنه امساك وى اوكه هروخت وي له همدې ځنه ارشادبارى تعالى دى ﴿ إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا اى امساكا عن الكلام ﴾ اودشريعت په اصطلاح كې له سهار ځنه ترمانښام پورې له مفطرات ثلاثة (اكل ،شرب ،جماع)ځنه بالاراده ځان ساتلوته صوم ويل كيږي.

صوم هم دصلوة په شان عبادت بدني دى لهذامناسبه داوه چې له صلوة سره يې متصل ذكركړي واى مګردقران كريم داقتداء له وجه يې زكوة په صوم مقدم ذكركړ قال الله تعالى ﴿ اَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَآتُوا الزَّكٰوةَ ﴾ په دې ايت مبارك كې له صلوة سره متصل زكوة ذكركړى دى نومصنف رحمه الله هم دصوم پرځاى زكوة له صلوة سره متصل ذكركړ.

الحكمة : ان الانسان اذاصام وذاق مرارة الجوع حصل عنده عطف ورحمة على الفقراء على الفقراء والمساكين الذين لايجدون من القوت مايسدون به الرمق ولقدوردان سيدنايوسف عليه السلام كان لاياكل ولايتناول طعاماالااذااشتدعليه الجوع لاجل ان يتذكرالبائس الفقيروالمحتاج المضطر(حكمة التشريع)

ف:روژه په شپږ قسمه ده له دې ځنه درې قسمه داسې دي چې دهغولپاره له شپې ځنه نيت كول ضروري دى قضاء رمضان، نذرمطلق اودكفارې روژې ،اودرې قسمه داسې دي چې دهغولپاره دورځې نيت كول هم كافي دي درمضان روژې، دنذر معين روژې ،اونفل روژې كماياتي التفصيل في المتن .

(١)هوترك الأكل والشرب والجماع من الصبح إلى الغروب بنية من أهله

ترجمه،روژه پرېښودل دي دخوراک څښاک اوجماع له سهارڅخه ترغروب لمرپوري سره له نیته داهل صوم له طرف څخه.

تشریح:(۱)دادروزي اصطلاحي تعریف دی یعنی کوم شخص چې دروزي اهل وي دهغه له صبح صادق څخه ترماښام یعنی دلمرترلویدلوپوري دروزي په نیت سره له خوراک څښاک اوجماع څخه حقیقة یاحکماډځان ساتلونوم روژه ویل ده.

ف:دروزي داهل والی مطلب دادی چې مسلمان،عاقل،بالغ اوله حیض اونفاس څخه پاک وي،حقیقة ځان ساتل دادي چې خوراک څښاک اوجماع ته بلکل تعرض ونه کړي اوحکماځان ساتل دادي چې په هېره سره څه وخوري یاوڅښي ځرنګه چې په دي سره دده روژه نه ماتیږي لهذاداحکماله مفطرات ثلاثة څخه ځان ساتل دي په دي وجه ویل کیږي چې ښه تعریف دادی،الامساک عن الاکل والشرب والجماع حقیقةاوحکما.

ف:په طویل الاوقات ځایونوکې دروزي حکم دادی چې دمعمولی فرق په وجه سره خوښکاره ده چې حکم نه بدلیږي لیکن که غیرمعمولي فرق وو مثلاپه یوځای کې ورځ شل یادوه ویښت ګانټې وه اودوه یاځلورګانټې ښپه وه نوبیاهم دقران او حدیث دعمومي احکاموتقاضاداده چې روژه له طلوع فجرڅخه ترغروب شمس پوري وي اوفتوی هم پردي ده.البته ضعیفواوکمزوروکسانوته دمؤخرکولواجازت ورکول کیدای شي ځکه چې فقهاودلوړي اوتندي هلاکت پېښونکی شدت هم دروزي دماتولولپاره عذرګڼلی دی،لیکن په کوم ځای کې چې یوه طویله زمانه ورځ اوبیاهمداشان دشپې اوږده سلسله وي نوپه هغه ځای کې لکه ځرنګه چې دلمانځه دوختونوتعین په اندازه سره کیږي همداشان درمضان دراتلو او دروزي داوقاتوتعین هم (بایدپه اندازه سره وشي)،دداسي ځایونوداوسیدونکولپاره دهغوځایونو مطابق عمل کول په کاردی کوم چې دوئ ته قریب وي اوپه هغوکې دمعمول په شان ورځې اوشپې دراتلوسلسله وي.(ماخوذازفقهي مسائل:۱/۱۸۰)

(۲)وَصَحَّ صَوْمُ رَمَضَانَ وَهُوَ فَرْضٌ وَالنَّذْرِ الْمُعَيَّنِ وَهُوَ وَاجِبٌ وَالنَّفْلِ بِنِيَّةٍ مِنَ اللَّيْلِ إِلَى مَا قَبْلَ نِصْفِ النَّهَارِ وَبِمُطْلَقِ النِّيَّةِ وَنِيَّةِ النَّفْلِ (۳)وَمَا بَقِيَ لَمْ يَجُزْ إِلَّا بِنِيَّةٍ مُعَيَّنَةٍ مُبَيَّتَةٍ

ترجمه:اوصحیح ده درمضان روژه کومه چې فرض ده اودنذرمعین روژه کومه چې واجب ده اونفل په داسې نیت سره چې دشپې څخه بیادنصف النهارترمخکې پوري وي اوپه مطلق نیت سره اودنفلوپه نیت سره،اوباقی روزي جائزنه دي مګرپه شپه کې په معین نیت سره.

تشریح:په عبارت کې وهوفرض حال دی له صوم رمضان څخه همداشان وهوواجب حال دی له النذرالمعین څخه،اوبنیة جارومجرورمتعلق دی په صح پوري.

(۲)یعنی درمضان روزي کومې چې فرض دي،دنذرمعین روزي کومې چې واجب دي اونفل روزي،ددري قسمه روزولپاره له شپې څخه بیادنصف النهارترمنځ په کوم وخت کې چې وغواړي نیت کولی شې اوداروژه په همدي نیت سره صحیح کیږي همداشان دمطلق روزي په نیت کولوسره هم درمضان روژه صحیح کیږي چې دفرضویاواجبویانفلونوم وانه خلې صرف دروزي نیت وکړي،یادنفلی روزي نیت وکړي مثلاداسې ووایې چې زماسبادنفلي روزي دنیولونیت دی نوبیابه هم درمضان یانذرمعین روژه وي وجه یې

داده چې درمضان دمیاشتې اونذرلپاره په متعینو ورځوکې کومه بله روژه مشروع نه ده نودرمضان میاشته دشارع له طرفه دمتعین والی له کبله دفرض روزولپاره متعینه ده همداشان دنذرلپاره مخصوصې ورځې دناذردمتعین کولوله وجه څخه متعینې دي اومتعین دتعین محتاج نه دی لهذا په مطلق نیت سره موجودیږي اوغیرفرضوپه نیت سره هم.

دپورته ذکرشوي اجمال تفصیل څه په دې ډول سره دی چې روژه پردوه قسمه ده ،نمبر۱.واجب (مرادفرض اوواجب دواړه دي)،نمبر۲.نفل دنفلي روزي لپاره ترنصف النهار مخکې نیت کول کافی ده په شپه کې نیت کول ضروري نه دی ﴿لِحَدِيثِ عَائِشَةَ رضي الله عنها قالت دخل عَلَيَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم ذَاتَ يَوْمٍ فقال هل عِنْدَكُمْ شَيْءٌ فَقُلْنَا لَا فقال إِنِّي إِذًا صَائِمٌ ﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ یوه ورځ کورته تشریف راوړی اوویې فرمایل ایاله تاسره دخوراک څه شی شته ماوویل یاویې فرمایل بس زه اوس صائم یم)له حدیث شریف څخه ثابته شوه چې په شپه کې دنفلي روزي لپاره نیت کول ضروري نه دی.

اوواجب روژه پردوه قسمه ده ،نمبر۱.معین یعنی کومه چې له یوې متعینې زماني سره متعلقه وي لکه درمضان روزي (دکومولپاره چې درمضان میاشت متعینه ده)اودنذرمعین روزي دکومولپاره چې دیوې زمانې تعین وکړل شي مثلاً داسې وویل شي چې پرمابانديي دخدای ﷻ لپاره درجب داولې عشري روزي لازمي دي ،نمبر۲.دواجب روزودوهم قسم غیرمعین دی یعنی کومې چې له یوې زمانې سره متعلقې نه وي لکه درمضان دقضاء روزي چې دهغوئ لپاره کوم وخت متعین نه دی اودنذرغیرمعین روژي چې دهغوئ هم کوم وخت متعین نه دی اودکفاراتوروژي لکه کفاره یمن ،کفاره صوم وغیره چې ددوئ لپاره هم کوم وخت متعین نه دی.

نودواجب روژي داولنی قسم حکم دادی چې دنوروروژوپه شان په شپه کې په نیت کولوسره جائزدي اوکه یې په شپه کې نیت ونه کړبلکه دسهاراووال په مابین کې یې نیت وکړنوبیاهم جائزدي ﴿لحدیث سلمة بن الاکوع ﷺ انه ﷺ امررجلامن اسلم ان اذن فی الناس ان من اکل فلیصم بقیة یومه ومن لم یاکل فلیصم فان الیوم یوم عاشورا﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ داسلم قبیلې یو شخص ته امروکړچې په خلکوکې اعلان وکړه چې چاچې څه خوړلي یې نوهغه دې بقیه یوم امساک وکړي اوچاچې څه نه وي خوړلي هغه دې روژه ونیسې ځکه چې نن دعاشوراورځ ده)دادهغه وخت خبره ده چې دعاشورا روژه واجب وه نودا دلیل دی چې که پرچاباندې دکومې ورځې روژه واجب وي نوکه ده په شپه کې نیت نه وي کړی نوقبل الزوال نیت کول هم جائزدی.

(۳)دواجب روژي دوهم قسم (دکومې لپاره چې وخت متعین نه وي)حکم دادی چې ددي لپاره کې یې له صبح صادق څخه وړاندې نیت وکړنوجائزدی اوله طلوع فجرڅخه وروسته جائزنه دی ولې چې ددې قسم روژي لپاره کوم وخت متعین نه دی له رمضان شریف اوهغه ورځ چې په هغه کې روژه نیول ممنوع دي ماسواهروخت روژه نیولی شي لهذادورځې له شروع کیدلوڅخه وړاندې متعین کول ضروري دی ،همداحکم دظهار(دمسلمان کس دخپلې ښځې له خپلومحرماتوڅخه له یوې سره تشبیه ورکولوته ظهاروېل کیږي لکه چې خپلې ښځې ته وواییي چې ته پرماباندې زمادمورپه شان یې) دروژوهم دی،

دمصنف ﷫ له قول ومابقي لم يجزالابنية معينة څخه دواجب ورژودادوهم قسم مراددی ددي قسم لپاره نيت له سهار څخه وړاندي كول ضروري دی.

ف:داحنافوپه نزددهري ورځې دروژي لپاره جلاجلانيت كول ضروري دی حال داچې دامام مالک ﷫ په نزدپه يو نيت سره درمضان دټولې مياشتې روژه نيول صحيح دي ځكه چې دټولې مياشتې روژه دلمانځه په شان يوعبادت دی لهذا دټولو لپاره يونيت كافی دی،احناف ځواب وركوي چې روژه دلمانځه په شان نه ده ځكه چې دبعض روژوپه فاسدوالی دنوروروژوفسادته مستلزم نه دی حال داچې دلمانځه دبعض حصې په فاسدوالی سره ټول لمونځ فاسديږي، همداراز دروژي هره ورځ جلاجلاعبادت دی ځكه چې دهرودوورځوپه مابين كې داسې وخت دی په كوم كې روژه نيول صحيح نه دی يعنی دشپې وخت ،لهذادهري ورځې لپاره جلاجلانيت كول ضروري دی.

(۴)ويثبت رمضان برؤية هلاله أو بعدشعبان ثلاثين يوما (۵) وَلَا يُصَامُ يَوْمُ الشَّكِّ إِلَّا تَطَوُّعًا

ترجمه:اوثابتيږي رمضان دهغه دمياشتې په ليدلو سره يادشعبان ددیرشو ورځوپه پوره كيدلو سره ،اوروژه دي نه نيول كيږي دشک په ورځ مګرنفلي.

تشريح:(۴)يعنی په نهه ويښتمه ورځ دسپوږمۍ په ليدلو سره رمضان ثابتيږي اوكه سپوږمۍ ونه ليدل شوه نودشعبان ديرش ورځې دپوره كړای شي اوپه دابله ورځ دي روژه ونيول شي ځكه چې نبی كريم ﷺ فرمايلي دي﴿ صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ فَإِنْ غُمَّ الْهِلَالُ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ يَوْمًا ﴾ (يعنی چې مياشت وويني نوروژه ونيسئ اوچې مياشت ووينئ نو افطاروكړئ اوكه ياماياشت پټه شوه اومشتبه شوه نودشعبان ديرش ورځې پوره كړئ)

ف:له مذكوره پورته ذكرشوي حديث څخه داثابتيږي چې درمضان په ثبوت كې دنجوميانودقول اعتبارنشته كه څه هم هغوئ عدول وي پخپله دمنجم لپاره هم پخپل حساب عمل كول جائزنه دی ځكه چې نبی كريم ﷺ روژه له دوعلاموسره تړلې ده په كوم كې چې هيڅ قسم تبديلي نه شې كيدای هغه دوه علامې دمياشت ليدل يادشعبان ديرش ورځې پوره كيدل دي، باقي دنجوميانوقول خواه كه په څومره دقيقونظرياتوباندي هم مشتمل وي بياهم په هغه كې قطعيت نشته له همدي وجه خواكثرددوئ رأيې سره يوله بله مختلفي وي كمافي الشامية:(قوله ولاعبرة بقول الموقتين)اى فى وجوب الصوم على الناس بل فى المعراج لايعتبرقولهم بالاجماع ولايجوزللمنجم ان يعمل بحساب نفسه وفى النهر فلايلزم بقول الموقتين انه اى الهلال يكون فى السماء ليلة كذاوان كانوا عدولا فى الصحيح كمافى الايضاح(ردالمحتار:۲/۱۰۰)

ف:په دوربين (لرليد)سره سپوږمۍ ته په كتلوكې هيڅ حرج نشته ځكه چې دروبين دعينكوپه شان صرف نظرلوپه وي هوكه چيرته داسې دوربين جوړشي په كوم سره چې سپوږمۍ له افق څخه دشاتې والي باوجودښكاره شې نوددي رؤيت اعتبارنشته ،همداشان په طياره سره سپوږمۍ ته په كتلوكې څه حرج نشته په دي شرط چې هغه په دومره ارتفاع كې پرواز ونه كړي تركومه ځايه چې دځمكې والونظرنشې رسيدلی ولی چې شرعاًهغه رويَت معتبردی چې په ځمكه اوسيدونكي دفضاء دصاف والی په صورت كې

پخپلو سترګو سره وليدای شي لهذا په ډيره ارتفاع کې دپرواز په صورت کې سپوږمۍ ليدل دهغه ښار لپاره معتبرنه دي دکوم په فضاء چې پراوشوی دی.

ف: دريډيو خبرديو اعلان حيثيت لري دااعلان که درويت هلال دباضابطه کميټۍ له طرفه وو کومه چې دسپوږمۍ دليدلو باقاعده شهادت اخلي اوبيافيصله کوي ،يادکوم داسې شخص له طرفه وي کوم چې دهغه ځای مسلمانانودقاضی يااميرشريعت په حيثيت سره منلی وي اوهغه باضابطه شهادت اخلي اوبيافيصله کوي اواعلان کونکی پخپله قاضی يااميرشريعت يادرويت هلال کميټۍ مشريادکميټۍ معتمدمسلم نمائنده وي نومقامې کميټۍ ياقاضی يااميرله جائزدی چې هغه پرهغه باندي اعتماد وکړي اودرويت فيصله وکړي .(فتاوی رحيميه :۷/۲۱۸)

ف: په هغه ځايونو کې چې دهغوتعلق له خبراواطلاع سره وي دټيليفون هم اعتبارشته،ليکن په کوم ځای کې چې شهادت اوګواه مطلوب وي په هغه ځای کې محض فون کفايت نه کوي مخامخ حاضري ضروري ده په داسې مواقعوکې په دي تدبيرعمل کول په کاردي چې ددارالقضاء يارؤيت هلال کميټۍ له طرفه دي په مختلفواهمومقاماتوباندي داسې ذمه داران متعين کړي کوم چې درويت هلال ګواهی واخلي اوبيادټيليفون په ذريعه مرکزته اطلاع ورکړي ،(مسائل رفعت قاسمی:۴/۱۵)،حضرت تهانوی رحمه الله فرمايي :په کومواحکاموکې چې حجاب له قبول ځخه مانع دی په هغوکې (دټيليفون خبر)غيرمعتبردی ، اوپه کوموکې چې حجاب مانع نه دی په هغوکې که په قرائينوقويه سره دمتکلم تعيين معلوم شي نو معتبردی.(امدادالفتاوی:۲/۹۵)

ف: په ملک کې موجوده هلال کميټۍ اعلان که ځه هم داعتبارقابل دی پرهغه مسلمان داخترا ورمضان په شان امورسرته رسولی شي مګرله دی علاوه دعلماوکميټۍ يايومعتمدعالم دين هم ددي خبري مجازدی چې هغه دشهادت يانورو اطلاعاتوپه بناء درمضان اوعيدينوفيصله وکړي داهم دقاضی قائم مقام دی .(حقانية :۴/۱۳۶)

(۵)که درمضان مياشت مشتبه شوه دانه شوه معلومه چې دشعبان ديرشم تاريخ دی يادرمضان اول تاريخ دی نودي ورځې ته يوم شک ويل کيږي په دي کې دي له نفلو ځخه ماسوابله روژه نه نيسي ځکه چې په حديث کې ددي ممانعت وارد شوی دی ،که يې په دي نيت سره روژه ونيوله چې رويت وشونودرمضان روژه به وي که نه نو نفل به وي نوداترددله وجه مکروه ده ،هوکه په يقينی ډول سره دنفلونيت وو نومضائقه نشته ،مګرداداهل علم کاردی چې هغه دخپل علم په بناپه شکوکو اووساوسو کې نه مبتلا ،کيږي بلکه خالص دنفلوپه نيت سره روژه نيسي البته عوام ځرنګه چې ددي وساوسوپه لري کولو قدرت نه لري په دي وجه هغوئ ته په دورځ دروژي دنيولواجازه نشته ،بياکه اتفاقا درويت تحقق وشونودانفل روژه دفرضوقائم مقامه کرځي .

(۶)وَمَنْ رَأَى هِلَالَ رَمَضَانَ اَوِ الْفِطْرِ وَرُدَّ قَوْلُهُ صَامَ(۷)فَاِنْ اَفْطَرَ قَضَى فَقَطْ(۸)وَقُبِلَ بِعِلَّةٍ خَبَرُ عَدْلٍ وَلَوْ قِنًّا اَوْ اُنْثَى لِرَمَضَانَ(۹)وَحُرَّيْنِ اَوْ حُرٍّ وَحُرَّتَيْنِ لِلْفِطْرِ

ترجمه،اوكه چامياشت وليدله درمضان ياعيد والا اوردشوده قول نوهغه دي روژه ونيسي ،نوكه ده افطاروكړنوصرف قضاء دي راوړي ،اوقبليږي به دعلت په وخه سره ديوه عادل شخص خبركه څه هم هغه غلام يابنځه وي درمضان لپاره، اوددووازادونارينه وو يايوه ازادنارينه اوددووازادوبنځودا خترلپاره .

تشريح:(۶)يعني كه يوچاتنهادرمضان يااخترمياشت وليدله اومطلع صاف وو نوداشخص دي خپله روژه ونيسي كه څه هم امام دده گواهي په يوه وجه سره ردكړه ﴿ لقوله ﷺ صوموالرؤيته وأفطروالرؤيته ﴾ (يعني دمياشتې په ليدلوسره روژه ونيسئ اودمياشتې په ليدلوسره افطاروكړئ)اودده په حق كې ځرنگه چې رويت هلال ثابت دى لهذاپرده روژه واجب شوه .دعيدالفطرپه صورت كې دي په دي وجه روژه ونيسي چې دنبى كريم ﷺ ارشاددى الصوم يوم يصومون والفطريوم يفطرون (روژه هغه ورځ ده چې په كومه ورځ چې خلك روژه ونيسي اوافطارپه هغه ورځ ده په كومه ورځ چې خلك افطاروكړي)همدارازپه دي كې احتياط هم دى .

(۷)البته كه ده داروژه وخوړه نوصرف قضاء لازمه ده كفاره نشته ځكه چې قاضي دده شهادت د دليل شرعي يعني تهمت ياغلطي له وجه ردكړى ده دكوم په وجه چې دده په روژه كې شبه پيداشوه اوكفاره دشبهې له وجه ساقطيږي .

(۸)يعني كه مطلع صاف نه وو بلكه په اسمان وريځ ياگردوغيره وو نودرمضان المبارك دمياشتې دليدلوپه باره كې ديوه عادل (دكوم چې نيكيانې دده پرگناهونوديرې وي)شخص گواهي قبليږي كه څه هم غلام يابنځه وي ،ولي چې له حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چې ﴿ جاء أعرابي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال إني رأيت الهلال فقال أتشهد أن لا إله إلا الله قال نعم قال أتشهد أن محمدا رسول الله قال نعم قال يا بلال أذن في الناس فليصوموا غدا ﴾ (يعني يواعرابي دنبى كريم ﷺ په خدمت كې حاضرشواوعرض يې وكړچې مادرمضان مياشت وليدله نبى كريم ﷺ پوښتنه وكړه چې ته گواهي وركوي چې له يوه الله ﷻ څخه ماسوادعبادت لائق نشته هغه وويل هو.نبى كريم ﷺ پوښتنه وكړه نوته گواهي وركوي چې محمد ﷺ دالله تعالى رسول دى هغه وويل هو .نبى كريم ﷺ وفرمايل يابلال !په خلكوكې اعلان وكړه چې سباروژه ونيسئ)، همدارازځرنگه چې دايوه دينې معامله ده نودادروايت اخبارسره مشابه ده همدا وجه ده چې په دي كې دشهادت لفظ ضروري نه دى نوپه دي كې عدد،ازادي اومذكروالى شرط نه دى هوعدالت شرط دى ځكه چې دفاسق قول په ديانانوكې غيرمقبول دى.

(۹)قوله وحرين اوحر وحرتين للفطر اى قبل خبرحرين اوحر وحرتين لاجل هلال الفطر ،يعني دعيدالفطردمياشتې دليدلو لپاره (په دي شرط چې مطلع صاف نه وي)ددووازادونارينه ويا ديوه ازادنارينه اوددووازادو بنځو گواهي ضروري ده ولي چې له د ى سره دبندگانو حق (يعني روژه ماتول)متعلق دى نودگواه لپاره چې كوم شرائط په نوروحقوقوكې ضروري دي هغه په دي كې هم ضروري دي يعني دگواه عدالت ،ازادي ، تعدداوپه لفظ دشهادت سره گواهي وركول.

(۱۰)وَإِلَّا فَجَمْعٌ عَظِيمٌ لَهُمَا (۱۱)وَالْأَضْحَى كَالْفِطْرِ (۱۲)وَلَا عِبْرَةَ بِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ

ترجمه،كه نه نو ديوه غټ جماعت خبرمعتبردى ددواړولپاره ،اوعيدالاضحى دعيدالفطرپه شان دى. اواعتبارنشته داختلاف دمطالعو .

تشريح :(۱۰)قوله والا الجمع عظیم ای وان لم یکن بالسماء علة فجمع عظیم ،يعنى كه مطلع صاف نه وو پراسمان وريځ، گرد وغيره نه وو نودرمضان اوعيددواړولپاره ديوه دوو گواهى معتبره نه ده بلكه ددومره لوى جماعت گواهى به قبليږي دكوموپه خبرسره چې دمياشت دليدلوظن غالب حاصل شي ځكه چې مطلع صاف دہ اوسترگې سالمې دي بياهم ديوه يادووپه ليدلوسره دظاهريږي چې دوئ دمياشتې په ليدلوكې غلط شوي دي.

ف:پاته شوه داچې دلوى جماعت مقدارڅومره دى نويوقول دادى چې دادقاضى رأيې ته مفوض دى چې هغه كوم جماعت لوى وگڼي نوهغه جماعت لوى دى ،اويوقول دادى چې كله له هرطرفه درؤيت خبرراشي نودابه لوى جماعت گڼل كيږي،له امام ابويوسف رحمه الله ځخه مروى ده چې پنځوس كسان كه خبروركړي نودالوى جماعت دى ،قول اول راجح دى كمافى الشامية :وفى السراج لم يقدرلهذاالجمع تقدير فى ظاهرالرواية والصحيح من هذا كله انه مفوض الى رأى الامام ان وقع فى قلبه صحة ماشهدوابه وكثرت الشهود امر بالصوم وكذاصححه فى المواهب وتبعه الشرنبلالى وفى البحرعن الفتح والحق ماروى عن محمدوابى يوسف ايضاان بمجئ الخبروتواتره من كل جانب وفى النهر انه موافق لماصححه فى السراج .(ردالمحتار:۲/۱۰۱)

(۱۱)اودعيدالاضحى دمياشتې دليدلوهغه حكم دى كوم چې دعيدالفطردمياشتې دى يعنى دمطلع دنه صاف والى په صورت كې ددوو ازادونارينه ويا ديوازادنارينه اودووازادوښځوگواهى ضروري ده اوكه مطلع صافه وي نوديوه لوى جماعت گواهى ضروري ده كمامر.

(۱۲)داختلاف مطالع اعتبارنشته يعني كه ديوه ښارخلكو مياشت وليدله نوظاهرروايت دادى چې داليدل په نورښارونو باندي هم مطلقالازميږي خواه كه ددي ښارونوترمنځ فاصله وي اوكه نه وي اوپرهمدي فتوى هم ده اودبعضوعلماوقول دادى چې اختلاف مطالع معتبرنه دى ددي قول مطابق په هرښاراوهرملك دهغه دمطلع حكم معتبردى.

ف:داختلاف مطالع په باره كې دمجلس تحقيقات شرعيه ندوة العلماء لكنهو فيصله ملاحظه كړئ كومه چې په سنه ۱۹۶۷ء كې په يومجلس كې فرمايلې ده ،ليكې :(۱)په نفس الامركې دټولې دنيامطلع يونه دى بلكه اختلاف مطالع مسلم دى اودايوواقعي شى دى په دي كې دفقهاء كرامو هيڅ اختلاف نشته اوحديث شريف هم ددي تائيدكوي كذافى الشامية،۲/۱۰۵.(۲) البته فقهاء كرام په دي خبره كې مختلف دي چې دروژي اوافطارپه باب كې دااختلاف مطالع معتبردى اوكنه ؟دمحقيقن احناف اودعلماء امت دتصريحاتو اودلائلوپه رڼائي دمجلس متفقه رأيه داده چې په بلادبعيده كې په دي باب كې هم اختلاف مطالع معتبردى كذافى العرف الشذى،۱/۲۶۶.(۳)له بلادبعيده ځخه مراددادى چې ددوئ ترمنځ دومره اندازه لري والى واقع وي چې عادة ددوئ په رويت كې ديوې ورځې فرق راځي،په يوه ښاركې يوه ورځ وړاندې مياشت ښكاريږي،اوپه بل كې يوه ورځ وروسته ،په دي بلادبعيده كې كه ديوه ښاررويت دبل ښارلپاره لازم كړاى شي نومياشت به يوځاى داته ويشتوورځووي اوبل ځاى به ددېرشوورځووي، دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه له روايت ځخه ددي قول تائيدكيږي .(۴)بلادقريبه هغه ښارونه دي دكوموپه رويت كې چې عادتاديوې ورځې فرق نه راځي،فقهاء ديوې مياشتې په اندازه ليري والى ته كوم چې تقريباپنځه ياشپږسوه

ميله كيږي بلادبعيده وايي ،اوله دې څخه لږته بلادقريبه ،مجلس په دې سلسله كې ديوداسې جدول ضرورت محسوسوي چې له هغه څخه معلومه شي چې مطلع په څومره مسافت سره بدليږي اودكوموكومو ښارونومطلع يودى كذافى الشامية :٢/١٠٥). (۵)دهندوستان، اوپاكستان دډيروبرخو اوځينوقريبي ملكونومثلانيپال وغيره مطلع يودى،دعلماء هنداوپاكستان عمل هيمشه پرهمدې ده، اوغالباله تجربې څخه هم همدا ثابته ده ددې ملكونودښارونوترمنځ دومره اندازه بعدمسافت نشته چې په مياشته كې دې ديوې ورځې فرق راشي په دې بنيادسره په دې دواړو ملكونوكې چې چيرته هم مياشت وليدل شي له شرعي ثبوت څخه وروسته دهغه منل ددې دواړوملكونو پرټول اهل ښارباندې لازم ده .(۶)دمصراوحجازپه شان دلرې ملكونومطلع دهندوپاک له مطلع څخه عليحده ده ددې ځاى رويت دهغوملكونولپاره اودهغوملكونو رويت ددې ځاى لپاره په هرحال كې لازم اوقابل قبول نه دى په دې وجه په دوئ كې اوپه هندوپاک كې دومره اندازه ليرې والى ده چې عموماديوې ورځې فرق راځي اوځينې وختونه لددې څخه هم زيات .(جديدفقهي مسائل:٢/٣۴)

ف:يوكس په سعودى كې دقاضى په قضاءسره روژه ونيوله بياپاكستان ته راغى ده هلته په سعودى كې ديرش روژې پوره كړې حال داچې په پاكستان كې داخترحكم نه دشوى نوداكس به پاكستان ته په رارسيدلوسره ددې ځاى اعتباركوي اويوديرش روژې به نيسي اوپه همدې كې احتياط دى. (فتاوى عثمانى:٢/١٧۶)

ف:يوكس په پاكستان كې روژې ونيولې بياسعودى عرب ته ولاړى دده دوه روژې دسعودى په لحاظ سره كميږي په داسې صورت كې پردې شخص ددې دوو روژوقضاءلازمه ده .(فتاوى عثمانى:٢/١٧٧)

ف:په ظاهرالرواية كې چې داختلاف مطالع اعتبارنه دكړل شوى دافقط دروژې په باره كې دى باقى دلمانځه په وختونو ،اضحيه اوحج كې دهرقوم خپله مطلع معتبره ده حتى كه دكوم قوم دعيدالاضحى ديارلسمه ورځ وه اوديوبل قوم په ځاى كې دولسمه ورځ وه نوددې قوم په دې ورځ اضحيه كول صحيح دي

كمافى الشامية(تنبيه)يفهم من كلامهم فى كتاب الحج ان اختلاف المطالع فيه معتبر فلايلزمهم شئ لو ظهر انه رؤى فى بلدة اخرى قبلهم بيوم وهل يقال كذالك فى حق الاضحية لغير الحجاج لم اره والظاهر نعم لان اختلاف المطالع انما يعتبر فى الصوم لتعلقه بمطلق الرؤية وهذا بخلاف الاضحية فالظاهر انها كاوقات الصلوة يلزم كل قوم العمل بما عندهم فتجزى الاضحية فى الثالث وان كان على رويا غيرهم هو الرابع عشر والله اعلم،قال ابن الشيخ :قوله الثالث عشر صوابه الثانى عشر وقوله هو الرابع عشر صوابه الثالث عشر من ذى الحجة هو اليوم الرابع من عيد الضحى والاضحية فى ذالك اليوم لاتصح عندنا ولعل جناب سيدى الوالد المؤلف اراد ان يكتب فى اليوم الثالث فسها فامسه فكتب الثالث عشر (ردالمحتار:٢/١٠٥)،وفى العرف الشذى:١/٢٦٦ :واما فى فطر كل يوم والصلوة الخمسة فيعتبر اختلاف المطالع.

بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ

داباب دهغوشيانوپه بيان كې دى كوم چې روژه فاسدوي اوكوم چې روژه نه فاسدوي

کله چې مصنف ﷫ د روژې له انواعو او اقسامو څخه فارغ شو نو د هغو عوارضو په بيان کې شروع وکړه کوم چې پر روژې طاري کيږي يعنی په کومو صورتونو کې روژه فاسديږي او په کومو کې نه فاسديږي او د فساد په کومو صورتونو کې صرف قضاء واجبيږي او په کومو کې قضاء او کفاره دواړه واجبيږي .

ف: د شي د فساد معنی داده چې هغه معنی مطلوبې ته له مفيد کيدلو څخه وايستل شي، په عباداتو کې د فساد او بطلان ترمنځ د تساوی نسبت دی البته په معاملاتو کې د دواړو ترمنځ فرق شته چې بيع فاسده مفيد ملک ده مگر بيع باطله مفيد ملک نه ده .

(۱۳) فإن أكل الصائم أو شرب أو جامع ناسيا (۱۴) أو احتلم (۱۵) أو أنزل بنظر (۱۶) أو ادهن أو احتجم أو اكتحل (۱۷) أو قبل (۱۸) بخلاف الانزال (۱۹) أو دخل حلقه غبار أو ذباب وهو ذاكر لصومه (۲۰) أو أكل ما بين أسنانه (۲۱) أو قاء وعاد لم يفطر (۲۲) وإن أعاده (۲۳) أو استقاء أو ابتلع حصاة أو حديدا قضى فقط

ترجمه: که روژه لرونکی خورک وکړيا يې څښاک وکړيا يې جماع وکړه په هيره سره ، يا احتلام شو ، يا يې انزال وشو په کتلو سره ، يا تيل ولگول يا ښکرو لگوی يا يې رانجه ولگول ، يا يې مچه واخيسته ، په خلاف د انزال چې د مچې له وجه وشي ، يا داخل شو دده حلق ته گرد يا مچ په داسې حال کې چې دده روژه په ياد وي ، يا يې وخوړی هغه شی کوم چې دده په غاښونو کې بند وو ، يا قی وکړ او هغه تير شو نو روژه نه ماتيږي ، او که د خپله تير کړ ، يا يې قصداقی وکړيا يې تيره کړه کوچنی ډبره يا اوسپنه نو صرف قضا به راوړي .

تشريح: د مصنف ﷫ قول ، فان اکل الخ شرط دی او لم يفطر يې جزاء ده نو په شرط کې د ټولو ذکر شويو مسائلو ځواب لم يفطر دی.

(۱۳) که روژه دار په هيره سره خورک وکړيا يې څښاک وکړيا يې جماع وکړه نو استحسانا دده روژه نه ماتيږي د قياس تقاضا داده چې ماته شي ولی چې خورک وغيره د روژې ضد دي او د شي ضد شی معدوم گرځوي ولی چې په يوه وخت کې د ضدينو موجود ديدل محال دي ، د استحسان وجه داده چې داکس حکماله مفطراتو څخه ځان ساتلی دی ځکه چې يو کس روژې په حالت کې په هيره سره څه خورک څښاک وکړ نو ده ته نبی کريم ﷺ وفرمايل ته خپله روژه پوره کړه په دې وجه چې الله تعالی تاته خورک او څښک درکړ، نو د فعل اکل او شرب نسبت نبی کريم ﷺ د الله تعالی طرف ته وکړچې الله تعالی تاته خورک او څښک درکړ گويا بنده خورک څښک نه دی کړی لهذا دده روژه نه ماتيږي ، نو کله چې له روايت څخه دا ثابته شوه چې په هيره سره خورک څښک مفسد صوم نه دی نو له دې څخه دلالة دا هم ثابته شوه چې په هيره سره جماع کول هم مفسد صوم نه دی .

ف: نسيان داده چې د ضرورت په وخت کې د کوم شي استحضار نه وي ، نسيان په حقوق العباد کې عذر نه شمارل کيږي البته په حقوق الله کې د سقوط اثم تر حده عذر شمارل کيږي ، خطاء داده چې ياد خو يې وي مگر د فعل صدور له ده څخه بالقصد نه وي مثلا د صائم روژه ياده وي مگر د خولې د پريمنځلو په وخت کې بې اختياره او به دده نس ته تيرې شي ، په خطاء څه خوړلو څښلو سره روژه ماتيږي او پر ده قضاء لازمه ده .

ف:که مکره یاویده کس څه خوړل یایې وڅښل نودی دمخطي په حکم کې دی کذافی الهدایة:۱/۱۹۹) وفی فتح القدیر:واعلم ان اباحنیفة کان یقول اولا فی المکره علی الجماع علیه القضاء والکفارة لانه لایکون الا بانتشار الآلة وذالک امارة الاختیار ثم رجع وقال لاکفارة علیه وهو قولهما لان فساد الصوم یتحقق بالایلاج وهو مکره فیه مع انه لیس کل من انتشر آلته یجامع (فتح القدیر:۲/۲۵۵)

(۱۴) که روژه دارویده شواوپه دي حال کې دده احتلام وشونودده روژه نه فاسدیږي ﴿لقوله ﷺ ثلاث لایفطرن الصائم القئ والحجامة والاحتلام﴾ (دري شیان روژه نه ماتوي ،قی کول ،ښکرلګول ،او احتلام کیدل)،همدارازپه احتلام کې نه صورة جماع شته اونه معنی اوکله چې نه صورة جماع ده اونه معنی نوپه ده سره روژه هم نه ماتیږي ،صورة جماع داده چې دیوه شرمګاه دبل په شرمګاه کې داخله شي ،اومعنی جماع داده چې ښځه اونرسره یوځای شي اوبغیرله ادخاله انزال وشي .

(۱۵) همداشان که یوچابنځې ته وکتل اوانزال یې وشونوهم روژه نه فاسدیږي ځکه چې په دي وخت کې هم نه صورة جماع شته اونه معنی ،خواه که یوځل وي یاپه بل ځل کتلوسره انزال وشي ،دامام مالک رحمه الله په نزدپه دوهم ځلوکتلوسره دانزال کیدونکې روژه ماتیږي ولی چې دوهم ځل کتل فعل ممنوع دي ،امام مالک رحمه الله ته ځواب ورکړل شوي دي چې دروژي دمفطراتوپه باره کې قاعده داده چې کوم شیان چې مفطردي په هغوکې تکرارشرط نه دی اوکوم چې مفطرنه دي په هغوکې تکرارهم مفطرنه دی کمالایخفی .

(۱۶) که روژه دارتیل ولګول یایې ښکرولګوی اویایې رانجه ولګول نوپه دي دري صورتونو کې دده روژه نه فاسدیږي ځکه چې په دي صورتونوکې منافی صوم نه صورة موجودشوی دی نه معنی، ولی چې تیل اورانجه براه راست دماغ اونس ته نه رسیږي دمساماتوپه ذریعه سره داخلیږي اودمساماتو په ذریعه سره داخل شوی شی له روژي سره منافی نه دی، همدارازله حضرت عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ دصوم په حالت کې ارنجه ولګول (سترګې یې توري کړي)،اودښکرلګولوپه باره کې دنبی کریم ﷺ ارشادمخکې تیرشوچې مفسدصوم نه دی.

ف:انجکشن (پچکاری) مفسدصوم نه ده که په غوښه کې ولګول شي اوکه په رګ کې ،ځکه چې دانجکشن (پچکاری) په ذریعه سره چې کوم شی جسم ته داخلیږي هغه عمومادرګونوپه واسطه سره دماغ یامعدي ته رسیږي کوم چې دغذااودواء معدي اودماغ ته درسولو منفذیعنی حقیقی لاره نه ده حال داچې مفسدصوم هغه شی ده کوم چې دمنفذ معتادپه ذریعه سره دماغ یامعدي ته ورسیږي .(کذافی امدادالفتاوی:۲/۱۴۵)

(۱۷) همداشان که روژه دارله یوچاڅخه مچه واخیسته اوانزال یې ونه شونودده روژه نه فاسدیږي ﴿لماروی ابوسعید الخدری رضي الله عنه انه ﷺ رخص فی القبلة للصائم﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ دروژه دارلره دمچې اخیستلواجازه ورکړي ده) همدارازپه دي وجه هم روژه نه ماتیږي چې منافی صوم نه صورة موجودشوی دی نه معنی.

(۱۸) قوله بخلاف الانزال به ای بخلاف مالوانزل بقبلة فانه یفسدوعلیه القضاء ،یعنی که روژه دارله ښځې څخه مچه واخیستله یایې مس کړه اوانزال شونودده روژه فاسدیږي ځکه چې منافی صوم یعنی معنی جماع متحققه شوه په دي وجه چې نراوښځه په شهوت سره یوځای شول اوانزال وشوځکه نودده روژه فاسده شوه لهذاپرده

ددي روژي قضاء واجبه ده لیکن کفاره واجبه نه ده ولی چې کفاره له کامل جنایت څخه وروسته واجبیږي دلته دصورة جماع دنیستې له امله جنایت کامل نه دی.

(۱۹) که دروژه دار حلق ته ګرد داخل شو یا مچ داخل شوا وحال دا چې ده ته خپله روژه وریاده وه نو دده روژه نه فاسدیږي ځکه چې له دي شیانو څخه دساتنې استطاعت نشته ،قوله وهو ذاکر ،جمله حالیه ده په دې کې اشاره ده چې دده روژه نه وه په یادونو په طریقه اولی سره روژه نه فاسدیږي.

ف:په رمضان شریف کې داګربتی وغیره په دوک سره روژه ماتیږي که یا؟ددي حکم بعینه دحضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله په الفاظو کې ملاحظه کړئ ،**سوال** :دروژي په حالت کې دقران مجید دویلو په وخت کې که نژدي عود یا اګربتی ولګول شي او دهغه دود حلق ته داخل شي نو روژه فاسدیږي او که یا؟

الجواب :په دي صورت کې روژه فاسده نه ده ،هو که یې اګربتی نژدي ونیوله او دهغې دودیې بوی کړاو په حلق کې داخل کړ نو روژه فاسدیږي ،قال فی الدر (ص ۱۰٦ ج ۲):او دخل حلقه غبار او ذباب او دخان ولو ذاکرا استحسانا لعدم امکان التحرز عنه ومفاده انه لو ادخل حلقه الدخان افطر ای دخان ای کان ولو عودا او عنبرا،قال الشامی حتی لو تبخر ببخور فاواه الی نفسه واشمه ذاکر الصومه افطر اه قلت قیود الفقه احترازیة فلو تبخر ولم یأوه الی نفسه ولم یشمه لم یفطر فان ذالک من دخول الدخان لا من ادخاله والله اعلم (امداد الاحکام:۲/۱۳۵)

ف:ددمه سخت مریض ته ددوري پیبندلو په صورت کې اکسیجن ورکوی ،له اکسیجن سره که کومه بله دواء نه وه نو باید روژه نه شي ماته ځکه چې داساه اخیستل دي او دساه په ذریعه سره دهوا اخیستل نه مفسد صوم دی او نه پردي داکل او شرب اطلاق کیږي ،که له دي سره ددواء اجزاء هم وي نو بیا روژه ماتیږي .(جدید فقهی مسائل:۱/۱۹۰)

(۲۰) که دروژه دار په غابنونو کې بنده شوي غذا روژه دار وخوړله نو که هغه لږ وي نو دده روژه نه فاسدیږي ځکه چې عادة دغابنونو ترمنځ څه ناڅه غذاء پاته کیږي له کوم څخه چې احتراز ممکن نه دی نو داشان غذاء دغابنونو دمتابعت له وجه دلعاب په حکم کې ده او که کثیروي نو روژه فاسدیږي ځکه چې له کثیر څخه ځان ساتل ممکن دي ،البته که یې قلیل مقدار له خولې څخه روایستی او بیا یې بیرته وخوړي نو روژه فاسدیږي.

ف:په قلیل او کثیر کې حد فاصل دادی چې دنخود په مقدار کثیر دی او له دي څخه کم قلیل دی دعلامه دبوسی رحمه الله رأیه داده چې کثیر هغه دی چې دهغه تیرول بغیر له نار وڅخه ممکن نه وي ،کما فی نهر الفائق:(او اکل مابین اسنانه) اذا کان اقل من قدر الحمصة کما قیده به فی النقایة وان کان قدرها افطر لانه کثیر کذا اختار الشهید قال الدبوسی هذا التقریر والتحقیق ان الکثیر مایحتاج فی ابتلاعه الی استعانة بالریق واستحسنه فی فتح القدیر .(النهر الفائق:۲/۱۸)

(۲۱) قوله او قاء وعاد ای لایفسد صومه لو قاء وعاد القی ،یعنی که روژه دار قی وکړا و هغه په خپله دحلق طرف ته تیر شو نو روژه نه فاسدیږي خواه که قلیل وي او که کثیر ﴿لقوله ﷺ من ذرعه القی وهو صائم فلیس علیه قضاء﴾ (یعني چاته خپله قی ورغی او هغه صائم وو نو پر ده قضاء نشته).

(۲۲) قوله وان اعاده ای لو قاء واعاده عمدا فضی فقط ،یعني که ده قی وکړا و قصداً یې تیر کړ نو بیا روژه فاسدیږي په دي وجه دافطار صورت موجود شو ځکه چې یوشی یې نس ته ورساوو ،او که چا عمداً قی

وکړنو دده روژه ماتيږي لهذا پرده قضاء واجب ده ﴿لقوله ﷺ ......وَمَنِ اسْتِقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ﴾ (يعنی که چا عمداقی وکړنو پرده قضاء واجبه ده).

ف:دقی تقريبا څلورويښت صورتونه جوړيږي،په دي کې صرف دوه صورتونه مفسدصوم دي،يوداچې په دکه خوله سره قی وکړي اودنځودپه اندازه ياله دي څخه زيات تيرکړي نوروژه ماتيږي قضاء لازمه ده کفاره نشته،دوهم صورت دادی چې قصداپه ډکه خوله سره قی وکړي،په دي صورت کې مطلقاروژه ماتيږي خواه کې يې تيرکړاوکه يې تيرنه کړ،البته که په ډکه خوله سره قی نه وو نومفسدنه دی.

(۲۳)که روژه داردبره يااورسپينه تيره کړه نوپرده صرف قضاء واجب ده کفاره واجب نه ده قضاء ځکه واجب ده چې دافطار صورت موجودشوځکه چې يوشی يې نس ته تيرکړاوکفاره په دي وجه نشته چې معنی افطارنشته ځکه چې معنی افطار دي‌ونفع رسونکی شی (له کوم څخه چې دواء ياغذاء حاصليږي) نس ته رسول دي دبره وغيره داسې نه ده،همداراز دقی په صورت کې هم څرنگه چې معنی افطارنشته نوکفاره واجب‌نه‌ده.

ف:که کوم کس غيرمفسدصوم مفسدصوم وگڼي (مثلاقی يې وکړاوهغه يې مفسدصوم وگڼی)اوله هغه وروسته يې خورک څښک وکړنوپرده کفاره نشته صرف قضاء لازمه ده.(احسن الفتاوی: ۴/۴۴۳)

الالغاز:ای صائم افطر ولاقضاء عليه؟

قل:من شرع فيه مظنونا،کمن شرع بنية القضاء فتبين ان لاقضاء عليه،(الاشباه والنظائر)

(۲۴)وَمَنْ جَامَعَ أَوْ جُومِعَ(۲۵)أَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ عَمْدًا غِذَاءً أَوْ دَوَاءً قَضَى وَكَفَّرَ(۲۶)كَكَفَّارَةِ الظِّهَارِ(۲۷)وَلَا كَفَّارَةَ بِالْإِنْزَالِ فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ (۲۸)وَبِإِفْسَادِ صَوْمِ غَيْرِ رَمَضَانَ

ترجمه:اوکه چا جماع وکړه ياله ده سره جماع وشوه،يايې خورک ياڅښک وکړددواء ياغذاء قصدانوقضاء به رواړي او کفاره به اداء کوي،دظهاردکفاري په شان،اوکفاره نشته په انزال سره له شرمگاه څخه ماسواپه بل ځای کې،اوپه فاسد کولوسره دغيررمضان دروژي.

تشريح:(۲۴)من جامع اوجومع،مبتداء دي،قضی وکفر،يې خبردی،يعنی که چاپه قصدسره له يو ژوندی انسان سره په احدالسبيلين کې جماع وکړه خواه که انزال وشي يانه وي ياعمدا له يوي ښځې سره صحبت وشي نوپه دي دواړو صورتونو کې ددي روژي قضاء هم لازمه ده اوپردي کس کفاره هم لازمه ده قضاء خوپه دي وجه لازمه ده چې داشخص ماموربالصوم دی حال داچې ده روژه ماته کړه لهذاپرده قضاء لازمه شوه اوکفاره په دي وجه چې دشهوة فرج دپوره کولوله وجه څخه جنايت کامل دی ځکه نوکفاره هم واجبه ده.

(۲۵)همداشان که يوچاقصدا کوم داسې شی وخوري يااويې وڅښي چې له هغه څخه غذاء حاصليږ ي‌يا په هغه سره تداوی کيږي نوپه دي صورتونو کې هم په هغه کس باندي قضاء هم‌شته او کفاره هم،قضاء له دي وجهې چې منافی صوم موجودشواودشهوة بطن دپوره کولوله امله جنايت هم کامل دی له دي وجهې کفاره هم واجبه ده.

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزد په قصدا خورک او څښاک سره کفاره نه لازميږي ځکه چې کفاره خلاف القياس په نص سره دجماع په صورت کې لازميږي په کوم چې خوراک او څښاک قياس کول صحيح نه دي،زمونږدليل

دنبي كريم ﷺ ارشاددی،﴿ من افطرفي رمضان فعليه ماعلى المظاهر ﴾ (يعني چاكه په رمضان كې روژه ماته كړه نوپرده هغه دي كوم چې پرمظاهرباندي شته).

(۲۶)اودروژي كفاره دظهاردكفاري په شان ده ،دظهاركفاره داده چې ظهاركونكى به يوغلام يامينځه ازاده وي كه ددي قدرت نه وي نودوه مياشتې به مسلسل روژي نيسې اوكه ددي قدرت هم نه ور نوبيادي شپيتومسكينانوته دودي وركړي هرمسكين ته نصف صاع غنم يايوه صاع اوربشې ،اودروژي دماتولوكفاره دظهاردكفاري په شان ده له دي وجهې چې د نبی كريم ﷺ ارشاددی ﴿ من افطرفي رمضان فعليه ماعلى المظاهر ﴾ (يعني چاكه په رمضان كې روژه ماته كړه نوپرده هغه دي كوم چې پرمظاهرباندي شته).

ف:دمتعددوروژوپه كفاروكې تداخل شته اوكه يا؟په دي كې دري قوله دي راجح قول داده چې كه چيرته مثلا ددوو رمضانوكفاري دجماع په سبب سره واجبوي نوبيابه دهريوه لپاره عليحده كفاره وركوي اوكه دنوروسببونو له وجهې وي اودمخكنى روژي كفاره يې نه وي وركړي نوپه دوئ كې تداخل جائزدی .(احسن الفتاوى :۴/۴۳۴)

(۲۷)كه چادروژي په حالت كې له فرج ځخه په علاوه كې جماع وكړه مثلاپه ورنوكې ياپه نس كې ياپې له كوم ځاروي سره جماع وكړه اوانزال شونوپرده قضاء شته ځكه چې معنی جماع موجوده شوه مگرپرده كفاره نشته ځكه چې صورة جماع نه دي متحققه شوي نودجنايت دنه كامل والى له كبله پرده كفاره نشته.

ف :دروژي په حالت كې په استمناء باليد(په اراده سره عضوتناسل ته حركت وركول اوله هغه ځخه ماده منويه خارج ول) سره روژه ماتيږي قضاء واجب ده ځكه چې په استمناء باليدكې معنی جماع شته ،مگركفاره نه ده لازمه ځكه چې صورة جماع نه ده متحققه شوي .

ف:استمناء باليدممنوع اوحرامه ده نبی كريم ﷺ فرمايلي دي ﴿ ناكح اليدملعون ﴾ (له لاس سره نكاح كونكى ملعون دی) نودقضاء شهوت په نيت سره داسې كول بلكل جائزنه دي ،هوكه دشهوت غلبه وه نوله زناځخه دساتل كيدلواوپه شهوت كې دسكون پيداكولولپاره كه يې دافعل وكړنواميددی چې دی به ګناه ګارنه وي په دي شرط چې عادت يې جورنه كړي كمافي شرح التنوير:وكذاالاستمناء بالكف وان كره تحريما لحديث ناكح اليدملعون ولوخاف الزنايرجى ان لاوبال عليه قال ابن عابدين الشامي رحمه الله، وفي السراج ......قال ابوالليث ارجوان لاوبال عليه واما اذافعله لاستجلاب الشهوة فهو آثم بل لوتعين الخلاص من الزنابه وجب لانه اخف (الدرالمختارمع الشامية:۲/۱۰۹)

(۲۸)قوله وبالفسادصوم غيررمضان ای ولا كفارة ايضابافسادصوم غيررمضان ،يعني كه چادغيررمضان روژه ونيوله بيايې په قصدسره ماته كړه نوپرده كفاره واجب نه ده مثلانفلي يانذريادقضاء روژه يې ونيوله بيايې ماته كړه ځكه چې درمضان دي روژي په ماتولوسره كفاره خلاف قياس په نص سره ثابته ده لهذاپردي دنوروروژه ماتولوقياس نشي كيدای.

(۲۹)وَإِنْ احْتَقَنَ أَوْ اسْتَعَطَ أَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ (۳۰)أَوْ دَاوَى جَائِفَةً أَوْ آمَّةً بِدَوَاءٍ وَوَصَلَ إِلَى جَوْفِهِ أَوْ دِمَاغِهِ أَفْطَرَ (۳۱)وَإِنْ أَقْطَرَ فِي إِحْلِيلِهِ لَا

ترجمه:اوكه چاحقنه وكړه يايې په پوزه كې دواء واچوله يايې په غوږونو كې دواء واچوله ،يايې داسې دواء ولګوله دنس پرزخم باندې يادد ماغ پرزخم باندې چې هغه ورسيدله دده نس يادماغ ته نوروژه ماتيږي ،اوكه يې دواواچوله دذكرپه سوري كې نونه ماتيږي .

تشريح :(۲۹)يعنى كه چاحقنه وكړه يعنى دپاخانه په لاره كې دننه دواء واچوله اويايې په پوزه كې دواواچوله يايې په غوږكې (دتيلو)څاڅكى واچول نودده روژه ماتيږي ځكه چې په مذكوره بالا صورتونوكې دفطارمعنى موجوده شوه ځكه چې دافطارمعنى داده چې يوشې دبدن دنفع لپاره نس يادماغ ته رسول اوداشى په مذكوره بالاصورتونوكې متحقق شو .

ف:په غوږونوكې دتيلوڅڅولوقيدله دې وجهې ولګول شوچې په غوږكې اوبه ننوتلې نودامفطرنه دي ، مګرجديدتحقيق دادى چې په غوږكې په تيل څڅولوسره هم روژه نه ماتيږي ،په دې باره كې دمشهوري دينې درسګاه جامعه دارالعلوم كراچي دفتوى يوه حصه ملاحظه كړئ ليكي :اوس څرنګه چې ټول اطباء اودتشريح الابدان ماهرين په دې خبره متفق دي چې په غوږكې په دواء اچولوسره تردماغ پوري دهغې درسيدلوهيڅ لاره نشته اوپه دې خبره هم متفق دي چې په غوږكې ددواء اچولوپه صورت كې ترحلق پوري دهغې درسيدلوهم په عامو حالاتوكې كومه لارنشته نوددې تركوم جوف معتبر پوري رسيدل ثابت نه دى ،اومذاهب اربعه پردې هم متفق دي چې له منافذمعتبره څخه جوف معتبرپه رسيدلوسره روژه ماتيږي له دې څخه سره تردماغ پوري دهغې درسيدلوهيڅ لاره نشته اوپه دې خبره هم متفق دي چې په غوږكې ددواء اچولوپه صورت كې ترحلق پوري دهغې درسيدلوهم په عامو حالاتوكې كومه لارنشته نوددې تركوم جوف معتبرپوري رسيدل ثابت نه دى ،اومذاهب اربعه پردې هم متفق دي چې له منافذمعتبره څخه جوف معتبرپه رسيدلوسره روژه ماتيږي له دې څخه بغيرنه .

ددې صورتحال په نظركې لرلوسره مجلس تحقيق مسائل حاضره په لاندنې امورو سره په خاص طورغوروكړ.(۱)دحضرت مولانامفتى محمدرفيع عثمانى صاحب دامت بركاتهم هغه تحقيق كوم چې حضرت موصوف مدظلهم په خپل كتاب، ضابط المفطرات كې په ص۵۸باندې ليكلى دى ،اودكوم له ظاهرڅخه چې دامعلوميږي چې په غوږكې په دواء اچولوسره روژه بايدفاسده نه شي .. (۲)دحضرت مولانامفتى رشيداحمدصاحب مدظلهم فتوى كومه چې په ۲۴جمادى الثانية كال ۱۴۲۲هج كې ليكل شوي ده ،په دې فتوى كې هم په غوږكې دواء اچول مفسدصوم نه دى ګڼل شوى ،په دې ټولوامورو په غوركولوسره مجلس تحقيق مسائل حاضره ،دې نتيجې ته ورسيدى چې په غوږكې په اوبوياتيلواچولو سره روژه نه فاسديږي ،الاداچې كه ديوكس دغوږپرده پرې وه اوهغه اوبه ياتيل وغيره دده حلق ته ورسيدل .

البته له دې سره كه يوڅوک دقديم جمهورو فقهاو د قول مطابق پخپله احتياط وكړي اودروژې په حالت كې په غوږكې ددواء اچولوپرځاى له افطارڅخه وروسته دواء تيل وغيره په غوږكې واچوي نودده لپاره داسې كول بلاشبه بنه اوله شبهې څخه ډيربعيددى.

ف: په روژه کې غاښ کښل یا پر هغه دواء لګول د ضرورت شدیده په وخت کې جائز دي او بلا ضرورت مکروه دي که دواء یا وینه نس ته ورسیږي او پرنا رو غالبه وي یا له هغوئ سره برابره وي یا یې خوند محسوس شي نو روژه ماتیږي، په سترګه کې بهیدونکي دواء اچول مفسد صوم نه ده که څه هم په حلق کې د دواء اثر معلوم شي. (احسن الفتاوی ۴۳۶، ۴/۴۳۶)

(۳۰) که روژه دار په جائفه (د نس زخم کوم چې جوف ته رسیدلی وي) یا په آمه (د سر زخم کوم چې دماغ ته رسیدلی وي) کې لنده دواء واچوله او هغې سرایت وکړ نس یا دماغ ته ورسیدله نو د حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د ده روژه فاسدیږي ځکه چې ظاهره داده چې کله د دواء رطوبت د زخم له رطوبت سره یو ځای شي نو د ننه طرف ته دمیلان په وجه سره دواء بالیقین جوف او دماغ ته د ننه رسیږي او کله چې دواء جوف او دماغ ته ورسیدله نو روژه فاسدیږي، حال دا چې د صاحبینو رحمهما الله تعالی په نزد روژه نه فاسدیږي ځکه چې د دواء د ننه رسیدل یقیني نه دي بلکه شک دی او د شک په وجه سره روژه نه فاسدیږي.

ف: مفتی به قول د امام ابو حنیفه رحمه الله دی، لیکن د فساد په قول کې د لندې دوایې قید ضروري نه دی بلکه نس یا دماغ ته د دوایې رسیدل معتبر دي نو که ورسیده نو روژه ماتیږي که څه هم وچه دواء وي او که د لندې دوایې په باره کې معلومه شوه چې نس ته نه ده رسیدلې نو روژه نه فاسدیږي کما فی الشامیة: المعتبر حقیقة الوصول حتی لو علم وصول الیابس افسد او عدم وصول الطری لم یفسد وانما الخلاف اذا لم یعلم یقینا فافسد بالطری حکما بالوصول نظرا الی العادة (ردالمحتار: ۲/۱۱۲)

(۳۱) قوله وان اقطر فی احلیله لا ای ان اقطر فی احلیله لا یفطر، یعنی که کوم روژه دار د خپل ذکر په سوری کې دواء واچوله نو د حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د ده روژه نه فاسدیږي او د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد فاسدیږي، د اختلاف وجه داده چې د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د ذکر او نس ترمنځ مثانه حائله ده بولې له دې څخه مترشح کیږي لهذا د ذکر له سوري څخه د دواء نس ته د رسیدلو لار نشته ځکه روژه نه ماتیږي حال دا چې د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد لار شته ځکه روژه ماتیږي.

ف: اصح داده چې د جوف او ذکر ترمنځ منفذ نشته لهذا په صورت مذکوره کې روژه نه ماتیږي کما فی الشامیة: والاختلاف مبنی علی انه هل بین المثانة والجوف منفذ اولا والاظهر انه لا منفذ له وانما یجتمع البول فیها بالترشیح کذا یقول الاطباء (ردالمحتار: ۲/۱۰۹)

ف: د مصنف رحمه الله قول، وان احتقن او استعط الخ، شرط دی او لفظ، افطر، یې جزاء ده نو په شرط کې د مذکورو ټولو مسائلو لپاره ځواب افطر دی.

(۳۲) وَکُرِهَ ذَوْقُ شَيْءٍ (۳۳) وَمَضْغُهُ بِلَا عُذْرٍ (۳۴) وَمَضْغُ الْعِلْكِ (۳۵) لَا كُحْلٌ (۳۶) وَدَهْنُ شَارِبٍ (۳۷) وَسِوَاكٌ (۳۸) وَالْقُبْلَةُ إِنْ أَمِنَ

ترجمه: او مکروه ده د یو شي څکل، او ژول بغیر له عذر څخه، او د ژاولو ژول، نه رانجه لګول، او په بریتو نو تیل لګول، او مسواک وهل، او مچه اخیستل که د صحبت خوف نه وو.

تشریح: (۳۲) یعنی که چا په خوله سره کوم شی وڅکې نو د ده روژه نه ماتیږي ځکه چې مفطر شی نس ته نه دی رسیدلی البته دا عمل مکروه دی ځکه چې په دې کې تعریض الصوم علی الفساد دی په دې وجه چې قوت جاذبه قوي ده ممکنه ده چې هغه له دې څخه یو څه د نس لور ته جذب کړي.

(۳۳)قوله ومضغه بلاعذراى كره مضغ شئ بلاعذر،يعنى بلاعذره ديوشي ژول هم مفسدصوم نه دى البته مكروه دى لماقلنا،الظاهر ان الكراهة فى هذه الاشياء تنزيهية(ردالمحتار:۲/۱۲۲)

ف:كه دكومې ښځې خاوند بدمزاجه اوتريخ طبيعت والاوي اوښځه ته له ده څخه دوهلواوبدرد ويلوخطره وي نو دداسې ښځې لپاره پاخه شوي شيان بلاكراهته جائزدي لماقال العلامة قاضى خان:اذاالزوج سيئ الخلق لاباس للمرأة ان يذوق المرقة بلسانه(فتاوى قاضى خان:۱/۹۸)

(۳۴)قوله ومضغ العلك اى وكذايكره مضغ العلك ،يعنى ژوالې ژول هم مكروه دي ځكه چې خلک يې وويني نووايي به چې څه خوري نودى به په روژه نه نيولوسره متهم كړي ،مگرمفسدصوم نه دى ځكه چې كوم شي نس ته نه رسيږي اوكله چې شى نس ته ونه رسيږي نوروژه هم نه فاسديږي ،البته كه له دي څخه څه نس ته رسيږي نوبيادوئ مفسدصوم والى هم يقنى دى.

ف:له حالت صوم څخه ماسوادښځې لپاره ژاولي ژول مكروه نه دي ددوئ په حق كې دمسواک قائم مقام دي اودنارينه ولپاره دتشبه بالنساء له وجهې څخه بلاعذرمكروه دي كمافى شرح التنوير:وكره للمفطرين الاالى الخلوة بعذروقيل يباح ويستحب للنساء لانه سواكهن ،قال ابن عابدين :(قوله كره للمفطرين)لان الدليل عنى تشبه بالنساء يقتضى الكراهة فى حقهم خاليا عن المعارض فتح وظاهره انهاتحريمية الخ وفى كلام محمداشارة الى لايكره لغير الصائم ولكن يستحب للرجال تركه الالعذرمثل ان يكون لمه بخر(ردالمحتار:۲/۱۲۲)

ف:دتمباكو ،نسواروغيره استعمال مباح دى اوپه دي سره روژه هم فاسديږي ځكه چې نسوارپه خوله كې اېښودل عملاً خوراک په حكم كې دى .(فتاوى عثمانية :۲/۱۹۲)

(۳۵)قوله لاكحل اى لايكره كحل ،كحل بفتح الكاف ،مصدردى درانجه لگولوپه معنى سره ،يعنى رانجه لگول مكروه نه دي ځكه چې له حضرت عائشې ﷺ څخه مروى ده چې نبى كريم ﷺ دروژي په حال كې رانجه ولگول .(۳۶)قوله ودهن شارب اى لايكره دهن شارب ،يعنى په بريتونوتيل لگول هم مكروه نه دي ځكه چې په دي عمل كې دصوم منافى كوم شى نشته .(۳۷)قوله والسواک اى لايكره استعمال السواک ، يعنى دروژي په حالت كې مسواک وهل مكروه ه دي بلكه سنت دى(كماهومصرح فى الشامية)ځكه چې له حضرت عامربن ربيعه ﷺ څخه روايت دى فرمايي چې مانبى كريم ﷺ دروژي په حالت كې په مسواک وهلوسره بې شمارځله ليدلى ده .

ف:دامام شافعى رحمه الله په نزددروژه دارلپاره دماښام پروخت مسواک وهل مكروه دى ﴿لقوله ﷺ لخلوف فم الصائم عندالله اطيب من ريح المسک ﴾ (يعنى دروژه داردخولې بوى، دالله تعالى په نزددمشكوله خوشبوڅخه ډيرښه ده)حال داچې دماښام په وخت په مسواک وهلوسره ددي لري والى لازميږي ،امام شافعى رحمه الله ته ځواب وركړل شوى دى چې په حديث كې چې دكوم بوى ذكرراغلى دى هغه له معدي څخه دخالى له وجهې راوتونكى بوى ده اوهغه په مسواک سره نه ليري كيږي لهذا ،ماښام پررخت هم مسواک مكروه نه دى .

ف:دروژي په حالت كې فقهاء احناف دمسواک اجازه وركړي ده خواه كه دوچ لرگي څخه ري اوكه سرساووي په كوم كې چې يوقسم خوندموجودوي ليكن دټوت پيسټ(دغاشونوټوپ) ياټوت پاودر (دغاښونوپودر)حال له دي څخه مخالف دى په هغه كې خونډيرمحسوسيږي اودمسواک خوپردوئ

اطلاق کيږي او نه د مسواک د سنت پوره کولو لپاره د دي ضرورت شته ،له دي وجهې له ضرورت شديده څخه بغير د روژي په حالت کې د دي استعمال له کراهت څخه خالي نه دی، هو د عذر په وجه سره يې استعمالولی شې .(جديد فقهي مسائل :۱۹۰/۱)

(۳۸)قوله والقبلة ان امن ای لايكره القبلة ايضا ان امن على نفسه الجماع والانزال ،يعنې د روژي په حالت کې مچه اخيستل هم مکروه نه دي په دي شرط چې د صحبت کولو يا انزال کيدلو خوف نه وي او که دا خوف وو نو مکروه دي ﴿لحديث عائشة ﷺ قالت كان رسول الله ﷺ يقبل وهو صائم ويباشر وهو صائم ولكنه كان املک لاربه﴾(يعنې نبي کريم ﷺ مچه اخيستله او مباشرت يې کاوو د روژي په حالت کې ليکن نبي کريم ﷺ په خپل ځان ډير طاقت لارو)،همدارازمچه بذات خود مفطر نه ده هو کله دانجام په اعتبار سره مفطر کرځي په دي ډول سره چې په مچه اخيستلو سره مشتعل شي او جماع وشي يا انزال وشي لهذا که داطمينان صورت وو نو دعين مچې په اعتبار کولو سره مکروه نه ده او که داطمينان صورت نه وو نو دانجام په اعتبار سره مکروه ده .

فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ

څرنگه چې بلاعذر روژه ماتول موجب گناه ده او د عذر په وجه سره گناه نه ده نو ضرورت د دی خبري دی چې هغه اعذار بيان کړي د کوم په وجه سره چې روژه ماتول مباح دي او داسې اعذار اته ادي ،مرض ،سفر،حمل ،ارضاع ،شيخ فانی،اکراه او داسې لوږه او تنده چې د هغه له وجهې څخه د هلاکت يا زوال عقل ويره وي علامه مقدسی رحمه الله دا اعذار په يوه شعر کې بيان فرمايلي دي **شعر**،سقم واكراه وحمل وسفر::رضع وجوع وعطش وكبر،مصنف رحمه الله له دي اتو اعذارڅخه پنځه ذکر کړي دي او دري يې ترک کړي دي يعنی اکراه ،لوږه او تنده.

(۳۹)لِمَنْ خَافَ زِيَادَةَ الْمَرَضِ الْفِطْرُ(۴۰)وَلِلْمُسَافِرِ وَصَوْمُهُ أَحَبُّ إِنْ لَمْ يَضُرَّهُ(۴۱)وَلَا قَضَاءَ إِنْ مَاتَا عَلَيْهِمَا(۴۲)وَيُطْعِمُ وَلِيُّهُمَا لِكُلِّ يَوْمٍ كَالْفِطْرَةِ بِوَصِيَّةٍ(۴۳)وَقَضَيَا مَاقَدَرَا(۴۴)بلاشرط ولاء(۴۵)فان جاء رمضان قدم الاداء على القضاء

ترجمه :چاته چې د مرض د زياتوالی ويره وي د هغه لپاره افطار جائز دی،او د مسافر لپاره او د مسافر روژه نيول ډيره ښه ده که ده لره مضر نه وو ،او قضاء نشته پر دوئ دواړو که وفات شول په سفر يا ناروغی کې ، او اطعام دي وکړي ولي د هري ورځې په عوض د فطري په شان په وصيت کولو سره ،او قضاء دي راوړي څومره ورځې چې په روژه قادر وي ،د پرلپسې ايښودلو له شرط څخه بغير،نو که دوهم رمضان راورسيږي نو مقدم دي کړي اداء پر قضاء باندي .

تشريح:(۳۹)يعنی که کوم کس په رمضان المبارک کې ناروغه شو او ده لره دانديشنه وه چې که روژه ونيسې نو ناروغي به يې زياته شي او يا به يې روغ والی وځنډيږي نو دا کس دي روژه افطار کړي (يعنی روژه دي نه نيسې)او کله چې روغ شي نو قضاء دي راوړي ځکه چې د ناروغي زياتوللی يا اوږدوالی کله هلاکت ته مفضی کيږي له دي وجهې له دي څخه ځان ساتل واجب دي .مگر د مرض د زياتوالی صرف وهم کافی نه

دی بلکه خپله تجربه يې وي چې ناروغې زياتيږي ياکوم ماهرمسلمان حاکم ورته ووايې چې ناروغي دي زياتيږي نوبيا روژه ماتولی شي.

(۴۰) قوله وللمسافرای وللمسافرالفطر،يعنی دمسافرلپاره هم روژه نه نيول جائزدي ځکه چې سفرله مشقت څخه خالي نه وي ځکه نونفس سفرعذروګڼل شوليکن که دمسافرلپاره روژه نيول مضرنه وو نودده لپاره روژه نيول بنه کاردی لقوله تعالی (وان تصوموا خيرلکم)(يعنی ستاسې روژه نيول افضل دي).

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزددمسافرلپاره افطارافضل دی ﴿لقوله ﷺ ليس من البر الصيام في السفر﴾ (يعنی په سفرکې روژه نيول څه نيکي نه ده)،امام شافعي رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې حديث شريف په هغه صورت باندي محمول دی چې روژه نيول مضروي لکه څرنګه چې مشهوره ده چې يوشخص روژه ونيوله اوبې هوش شونبی کريم ﷺ ته معلومه شوه نوويې فرمايل چې په سفرکې روژه نيول څه نيکي نه ده.

ف:پائلټانوته دځيني طبی وجوهاتوپه بناء دروژي په حالت کې دپروازکولو ممانعت دی دډاکټرانو هدايت داوي چې له طياري الوزولو څخه وړاندي دي هم پائلټ څه خورک څښک وکړي اوله پروازڅخه په واپسۍ کې دي هم خوردونوش وکړي نوکه ددوئ داهدايات وقعتاداسې يې چې ددې په خلاف ورزي سره دنقصان غالب ګمان وي نوپه دي صورت کې دپائلټ لپاره روژه پريښودل اوپه نوروورځوکې قضاء کول جائزدی ،دسفرپه وجه سره بلاشبه دروژې قضاء کولواجازه شته ليکن له سفرڅخه وړاندي په خپل وطن کې خوراک شروع کول دضرورت په شرط سره مشروط دی.(فتاوی عثمانی:۲/۱۸۰)

(۴۱)که مريض اومسافرروژه ماته کړه يايې بلکل نه ونيوله بيا په دغه مرض ياسفرکې وفات شونوپرده ددي روژوقضاء لازمه نه ده يعنی عندالله مواخذه نشته اونه ددوئ څه فديه واجبه ده لقوله تعالی ﴿فمن كان منكم مريضا او على سفر فعدة من ايام اخر﴾ (يعنی کوم کس چې له تاسې څخه مريض وي ياپه سفرکې وی نوافطاردي وکړي دهغوشماردي بيا په نورو ورځوکې وکړي)نوله ايت مبارک څخه ثابتيږي چې په مريض اومسافرباندي دقضاء وجوب هغه وخت دی چې هغه دسفر اومرض له ختميدلو څخه وروسته دومره زمانه پيداکړی چې په هغه کې دی روژي ونيسي اودلته څرنګه چې زوال مرض اوسفرشوی نه دی نوقضاء هم واجبه نه ده.

(۴۲)که په کوم مريض يامسافردرمضان دروژوقضاء واجب شوله اوهغه مرګ ته نژدي شواوهغه خپلوورثه وته دفديه ورکولووصيت وکړنودده ولی دي دصدقة الفطرپه اندازه دهري روژي په بدله کې يوه مسکين ته دغنمونيمايې صاع ورکړي يادي دخرماوو يااوربشويوه صاع ورکړي وجه داده چې داکس دخپل عمرپه اخرکې دروژي له اداء کولو څخه عاجزشونودی دشيخ فانی په شان شولهذااوس دفديه ورکولوحکم دی اوداپرولی واجب ده په دي شرط چې دترکې له ثلث څخه به پوره کيږي کنه بقدرثلث واجب ده ،اوکه ده وصيت نه وو کړی نوپرورثه و لازمه نه ده ،هوتبرع کولی شي.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزدبلاوصيت هم پرولی باندي لازم ده اوله کل ترکه څخه به يې ورکوي امام شافعي رحمه الله دالله تعالی قرض دبندګانوپرقرض باندي قياسوي ،احناف وايې چې دالله تعالی قرض

عبادت دی اوعبادت لپاره اختیار ضروري دی په دي وخت کي داختیارصورت دادی چي هغه وصیت وکړي حال داچي ده وصیت نه ده کړی اووصیت په ثلث مال کي نافذیږي.

(۴۳)قوله وقضیاماقدرا ای قضی المریض والمسافرماقدراعلیه من الایام بعدالصحة والاقامة ،یعنی که مریض روغ اومسافرمقیم شویاڅوورځي وروسته وفات شونودمرض اوسفرپه حالت کي چي څومره روژي ده نه وي نیولي دهغوقضاء پرده لازمه ده نوکه له مرض اوسفرڅخه وروسته دومره ورځي دی ژوندی وو څومره ورځي چي یي روژه نه ده نیولي نودقضاء شویوټولوروژوقضاء لازمه ده اوکه څومره روژي قضاء شوي وي له هغوڅخه لږورځي ژوندی وو نوبقدرصحت واقامت دروژوقضاء واجبه ده دالله تعالی ارشاددی ﴿فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾(یعنی کوم کس چي له تاسوڅخه مریض یاپه سفرکي وي نوافطاردی وکړي اودهغوشماردي په نورو ورځوکي وکړي)نوځرنګه چي ده دقضاء لپاره ایام اخروموندلي ځکه دده پرذمه قضاء واجب ده.

(۴۴)قوله بلاشرط ولاء ای قضیاماقدرابلاشرط ولاء ،یعنی بیادرمضان شریف دقضاء شویوروژه پرلپسي نیول شرط نه دی ،که یي خوښه شوه متفرق دي ونیسي اوکه یي خوښه شوه پرلپسي دي ونیسي ځکه چي دقضاء روژوپه باره کي نص یعنی ﴿فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾ (یعنی کوم کس چي له تاسوڅخه مریض یاپه سفرکي وي نوافطار دی وکړي اودهغوشماردي په نوروورځوکي وکړي)مطلق دی په هغه کي دپرلپسي نیولو قیدنشته لهذاپرلپسي نیول واجب نه دي ،هوپرلپسي نیول مستحب دي ترڅوچي دواجب په اداء کولوکي تلوار وشي.

(۴۵)که پریوچاباندي درمضان دروژوقضاء واجب وي اوده قضاء مؤخره کړه ترڅوچي بل رمضان راورسیدونوداکس به اول ددي بل رمضان روژي نیسي ځکه چي داوخت دده دی اودمخکني قضاء شویو روژوقضاء به له دي څخه وروسته راوړي ځکه چي وروسته زمانه هم دفوت شویوروژو دقضاء زمانه ده.

ف :داحنافوپه نزدددي تاخیرله کبله پردي شخص فدیه لازمه نه ده ځکه چي دقضاء حکم مطلق دی اومطلق امرموجب علی الفورنه وي بلکه علی التراخی وي ،حال داچي دامام شافعی رحمه الله په نزدکه تاخیربلاعذره وو نودهري ورځي په عوض کي دي یوه مسکین ته طعام ورکړي.

(۴۶)وللحامل والمرضع إن خافتا علی الولد او النفس(۴۷)وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي وَهُوَ يَفْدِي فَقَطْ(۴۸)وَلِلْمُتَطَوِّعِ بِغَيْرِ عُذْرٍ فِي رِوَايَةٍ(۴۹)وَيَقْضِي

ترجمه:اوحاملي ښځي ته اوشیدي ورکونکی ښځي ته (افطارجائزدی)که دوئ دواړولره خوف وو دبچي یادخپل ځان، اوشیخ فانی ته اوهغه دي صرف فدیه ورکوي ،اودنفلی روژه نیونکی لپاره بلاعذرپه یوروایت سره ،اوقضاء به راوړي.

تشریح:(۴۶)قوله وللحامل ای الفطرجائزللحامل ،یعنی دحاملي ښځي لپاره اودشیدي ورکونکي ښځي لپاره که په روژه نیولوسره دخپلوبچیانودضائع کیدلوخطره وي یادخپل ځان دهلاکیدوخوف وي نودادواړه دي افطاروکړي اووروسته دي قضاء رواړي ځکه چي په دي دوصورتونوکي دروژي په نیولوکي حرج ده اوحرج شرعاًمدفوع ده.

ف:په حاملې اومرضعې باندې فدیه هم نشته ځکه چې دوئ دمسافراومریض په شان دعجز له وجهې افطارکړی دی .حال داچې دامام شافعی رحمه الله په نزدکه مورته دکوچنی خوف وو نوپه دې صورت کې پردې دشیخ فانی په شان فدیه واجب ده، احناف وایې چې دکوچنی مورځرنګه چې وروسته قضاء کوي لهذا ددې پرذمه له قضاء ځخه علاوه نورهیڅ نشته .

(۴۷)قوله وللشیخ الفانی ای الفطر جائز للشیخ الفانی ،شیخ فانی هغه سپین ږیري یاسپین ساري ښځه ده کوم چې په روژه نیولو قدرت نه لري ده ته فانی په دې وجه ویل کیږي چې دافناء ته قریب شوي دي ،یادده قوت فناء شوی دی ،دشیخ فانی په باره کې حکم داده چې دی به روژه نه نیسې اودهري روژې په بدله کې به یوه مسکین ته خوراک ورکوي لکه ځرنګه چې په کفاراتوکې ورکول کیږي ،لقوله تعالی ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ای وعلی الذین لایطیقونه الخ﴾ (یعنی کوم کسان چې دروژه نیولو طاقت نه لري پردوئ صرف فدیه واجب ده دهري ورځې په عوض کې یوه مسکین ته خوراک ورکړي)، مصنف رحمه الله دفقط په لفظ سره اشاره وکړه چې دفدیې حکم صرف دشیخ فانی لپاره دی دحاملې اومرضعې لپاره داحکم نشته کمامر ،بیاکه دشخص فانی له فدیې ورکولو ځخه وروسته په روژه نیولو قادرشونوپرده روژه نیول لازم دی فدیه صدقه ګرځي .(کذافی الهندیه :۱/۲۰۷)

ف:دامام مالک رحمه الله په نزدپرشیخ فانی باندې فدیه نشته دی شیخ فانی پرمسافراومریض باندې قیاسوي،احناف ځواب ورکوي چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایې چې پورته ذکرشوی ایت دشیخ فانی په باره کې دی اوله کوم صحابی ځخه په دې کې له ده سره اختلاف هم نه ده کړی لهذاداصحابه کرامو رضی الله عنهم له طرف ځخه اجماع ده اودنص په موجودوالی کې قیاس ته رجوع کول جائزنه دي.

(۴۸)قوله وللمتطوع بغیر عذرفی روایة ای الفطر جائز للمتطوع بغیر عذرفی روایة ،یعنی که چانفلی روژه شروع کړه نوبلاعذرددې په ماتولوکې اختلاف دی چې جائزده اوکه یا ؟له امام ابویوسف رحمه الله ځخه جوازمروی دی ځکه چې له حضرت عائشه رضی الله عنها ځخه مروی ده چې موږیوځل حیس (یوقسم خوراک ده کوم چې دپنیر،خرماوو، وړواوغوړوپه یوځای کولوسره جوړیږي)دنبی کریم صلی الله علیه وسلم لپاره پټ کښېښود کله چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم تشریف راوړی نوموږدنبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې پیش کړنونبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې مادروژې اراده کړې وه مګراوس یې خورم اوددې پرځای به بله قضاء راوړم ،له دې روایت ځخه ثابته شوه چې بلاعذرنفلی روژه ماتول جائزدی،حال داچې امام کرخی رحمه الله فرمایې چې بلاعذرنفلی روژه ماتول جائزنه دي ځکه چې مروی ده چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل کله چې له تاسوځخه کوم یوه ته دطعام دعوت ورکړل شې نوکه روژه یې نه وي نوقبول دې کړي اوخوراک دې وخوري اوکه یې روژه وي نوده ته دې دعاء وکړي .له دې روایت ځخه بلاعذردروژې دماتولوعدم جواز معلومیږي ځکه نوکه ماتول جائزوای نودماتولوحکم به یې کاووځکه چې اجابت دعوت سنت دی .

ف:همداقول مفتی به دی کمافی شرح التنویر:(ولایفطر)الشارع فی نفل (بلاعذرفی روایة)وهی الصحیحة (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار: ۲/۱۳۱)وفی الهندیه :ذکرالرازی عن اصحابنا ان الافطاربغیرعذرفی صوم التطوع لایحل وهوالاصح وهوظاهرالروایة (هندیة ۱/۲۰۸:)

(۴۰)قوله ويقضى اى ويقضى المتطوع اذاافطربعذروغيره ،يعني له روژي ماتولوځخه وروسته په متطوع باندي ددي روژي قضاء كول واجب ده ځكه چې نفلي روژه چې شروع شوه نوهغه عبادت اوعمل دی اوعمل له باطل والی ځخه ساتل واجب دی لقوله تعالی ﴿ولاتبطلوااعمالكم﴾ (يعني خپل اعمال مه باطلوئ)اواعمال له باطلولوځخه ساتل په دي دول سره كيدای شي چې هغه پوره شي لهذانوله شروع ځخه وروسته دعمل پوره كول واجب دي اودكوم عمل پوره كول چې واجب وي دفسادپه صورت كې دهغه قضاء كول هم واجب دي.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزددنفل(خواه كه لمونځ وي كه روژه وي)په ماتولوسره دهغه قضاء لازمه نه ده ځكه چې ځومره برخه ده اداء كړي ده په هغه كې داكس متبرع دی اوپرمتبرع باندي ځه الزام نشته لقوله تعالى ﴿ماعلى المحسنين من سبيل﴾ (په تبرع كونكوباندي ځه الزام نشته).

(۵۰)وَلَوْ بَلَغَ صَبِيٌّ اَوْ أَسْلَمَ كَافِرٌ أَمْسَكَ يَوْمَهُ (۵۱) وَلَمْ يَقْضِ شَيْئًا (۵۲) وَلَوْ نَوَى الْمُسَافِرُ الْإِفْطَارَ ثُمَّ قَدِمَ وَنَوَى الصَّوْمَ فِي وَقْتِهِ صَحَّ (۵۳) وَيَقْضِي بِإِغْمَاءٍ سِوَى يَوْمٍ حَدَثَ فِي لَيْلَتِهِ (۵۴) وَبِجُنُونٍ غَيْرِ مُمْتَدٍّ (۵۵) وَبِإِمْسَاكٍ بِلَانِيَّةِ صَوْمٍ وَفِطْرٍ

ترجمه:اوكه هلك بالغ شو ياكافرمسلمان شونوامساك دي وكړي باقي ورځ ،اوقضاء دي نه كوي دهيڅ،اوكه كوم مسافردافطارنيت وكړياكورته راغی اودروژي نيت يې وكړپه وخت كې دننه نوداصحيح ده ،اوقضاء دي راوړي دبې هوشۍ په وجه سره ماسواله هغې ورځې دكومې په شپه كې چې بې هوشي پېښه شوي ده ،اودجنون غيرممتدله وجهې ،اوپه امساك كولوسره دروژي ياافطارله نيت كولوځخه بغير.

تشريح:(۵۰)يعني كه چيرته درمضان المبارك په ورځ كې كوم نابالغ هلک بالغ شوياكافرمسلمان شونودوئ دواړه دي باقي ورځ له خوراک ځښاک اوجماع كولوځخه اجتناب وكړي ترځوله روژه داروسره دمشابهت داختيارولوپه وجهې سره درمضان المبارک دمقدس وخت حق اداء شي.

(۵۱)بياده مسلمان اوبالغ كيدلوورځې اوله دي ځخه دوړاندي ورځوقضاء پردوئ لازمه نه ده ځكه چې په دي ورځوكې دعدم اهليت له كبله داخلک دباري تعالى دامرمخاطب نه دي ،اودرمضان المبارک په باقي مانده ورځوكې پردوئ روژه نيول فرض دي ځكه چې اوس په دوئ كې اهليت هم شته (چې عاقل ،بالغ اومسلمان دی)اوسبب روژه يعني درمضان المبارک مياشت هم موجود ده .

ف:دامام زفراوامام مالک په نزدپردوئ ددهمدي ورځې قضاء لازمه ده ځكه چې دوئ ددي ورځې يوځه وخت پيداكړی دی اودوخت يوجزء موندل دټول وخت دموندلوپه شان دی لكه چې دلمانځه دوخت كه يې يوجزء وموندنوهم لمونځ ددوئ پرذمه لازم دی ،احناف ځواب وركوي چې دروژي اولمانځه په وخت كې فرق دی ځكه چې دروژي له وخت ځخه كه يوجزء وموندل شونوپه دي كې روژه اداء كول ممكن نه دي حال داچې دلمانځه دوخت كه يوجزء وموندل شونوپه دي كې دلمانځه اداء كول ممكن دي په دي وجه روژه پرلمانځه قياسول صحيح نه دی.

(۵۲)كه كوم مسافردسفرپه حالت كې دافطارنيت وكړياهغه كورته راغی تراوسه يې ځه خوړلي ياځښلي نه وو اوپه وخت كې دننه يې دروژي نيت وكړيعني له نصف نهارځخه يې وړاندي دروژي نيت وكړنوداصحيح ده ځكه چې سفرمنافي الصوم نه دی دسفرپه وجه سره صرف دافطاررخصت دی نوكله چې

سفرزائل شونو داشخص دمقيمنوسره ملحق شواو دمقيمنوحكم دادی چې له نصف نهارڅخه وړاندي دروژي نيت كولی شي.

(۵۳)يعني كه يوڅوک په رمضان كې څوورځې بې هوشه وو اوله مفطراتوڅخه محفوظ وو نوپه كومه ورځ چې بې هوشې طاري شوي ده له هغې ورځې څخه ماسوادنوروورځوقضاء به كوي ځكه چې په دي ورځوكې كه څه هم دی له مفطراتوڅخه محفوظ وو مگردنيت دنه وجودپه وجه سره روژه نه ده متحققه شوي ځكه نوقضاء واجب ده ،البته په كومه ورځ چې بې هوشې پيښه شوه دهغې ورځې روژي قضاء به نه كوي ځكه چې دظاهرحال دمسلمان دادی چې ده په شپه كې دروژي نيت كړی دی اوله مفطراتوڅخه هم محفوظ وولهذادا روژه وشوه ځكه پرده قضاء واجبه نه ده.

ف:نوكه په قطعي ډول سره معلومه شوه چې ده دروژي نيت كړی وو نوددي ورځې قضاء پرده يقينا نشته،اوكه په قطعي ډول سره معلومه شوه چې ده نيت نه وكړی نوبياددي ورځې قضاء هم پرده لازمه ده ځكه چې دنيت دنه تحقق له كبله ددي ورځې روژه هم نه ده موجوده شوي كمافي شرح التنوير:(وقضى ايام اغمائه ولو) كان الاغماء (مستغرقاللشهر) لندرة امتداده (سوى يوم حدث الاغماء فيه اوفي ليلته) فلايقضيه الااذاعلم انه لم ينوه ،قال ابن عابدين (قوله الااذاعلم الخ)قال الشمني وهذااذالم يذكرانه نوى اولاواذاعلم انه نوى فلاشك في الصحة وان علم انه لم ينو فلاشك في عدمه (الدرالمختارمع ردالمحتار:۲/۱۳۳)

(۵۴)قوله وبجنون غيرممتداى ويقضي مافاته بجنون غيرممتد،يعني كه دمجنون جنون غيرممتدوو يعني ټوله مياشت نه وو بلكه ده ته درمضان المبارک په ځيني برخه كې افاقه وشو (يعني جوړ شو)نودی به دتيروشويو ورځوقضاء راوړي اوداينده ورځوروژي به نيسي ځكه چې سبب يعني شهودشهررمضان متحقق دی اواهليت هم موجوددی په دي وجه سره چې اهليت وجوب انسانيت دی دكوم په وجه سره چې دانسان اوځاروي ترمنځ فرق دی له همدي وجه خوپرمجنون باندي صدقة الفطراونفقه محارم واجب ده ځكه نوپرمجنون باندي دتيرشويو ورځوقضاء لازمه ده.

ف:البته دجنون ممتدپه صورت كې قضاء لازمه نه ده ځكه چې په دي كې حرج دی اوحرج شرعامدفوع دی ،جنون ممتدهغه دی كوم چې ټوله مياشت وي كمافي شرح التنوير:(وان استوعب)الجميع مايمكنه انشاء الصوم فيه على مامر(لا) يقضي مطلقاللحرج ،لايخفي انه اذااستوعب الجنون الشهر كله لايقضي بلاخلاف مطلقا(الدرالمختارمع ردالمحتار:۲/۱۳۳)

(۵۵)قوله وبامساک بلانية صوم وفطراى ويقضي مافاته عنه بامساک بلانية وفطر،يعني كه چادروژي له نيت اودافطارله نيت څخه بغيرپه رمضان كې امساک وكړيعني له خوراک څښاک وغيره څخه يې ځان ساتلی وو نوهم دده داروژه صحيح نه ده لهذادی به ددي قضاء راوړي ځكه چې پرده واجب امساک على وجه العبادة دی اوعبادت له نيت څخه بغيرنه كيږي لهذادده داروژه صحيح نه شوه ځكه قضاء لازمه ده.

ف:دامام زفر رحمه الله په نزدپه رمضان شريف كې بغيرله نيت څخه په امساک كولوسره هم صوم رمضان اداء كيږي ځكه چې پرمكلف امساک واجب دی څرنگه چې هم امساک وكړي هغه له صوم رمضان څخه واقع كيږي لكه چې يوڅوک ټول نصاب يوه فقيرته وركړي نوزكوة اداءكيږي ،احناف وايي پرده امساک على جهة العبادة لازم دی كوم چې له نيت څخه بغيرنشي راتلای لهذابلانيت روژه نه اداء كيږي.

(۵٦) وَلَوْ قَدِمَ مُسَافِرٌ اَوْ طَهُرَتْ حَائِضٌ (۵۷) اَوْ تَسَحَّرَ ظَنَّهُ لَيْلاً وَالْفَجْرُ طَالِعٌ (۵۸) اَوْ اَفْطَرَ كَذٰلِكَ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ اَمْسَكَ يَوْمَهُ وَقَضٰى وَلَمْ يُكَفِّرْ (۵۹) كَاَكْلِهٖ عَمْدًا بَعْدَ اَكْلِهٖ نَاسِيًا (٦۰) وَنَائِمَةٌ وَمَجْنُوْنَةٌ وُطِئَتَا

ترجمه: او که مسافر کورته راغی یا پاکه شوه حائضه ،یا یې پیشلمی وکړ د شپې په ګمان سره حال دا چې سهار شوی وو ، یا یې افطار وکړ همدا شان حال دا چې لمر لا نه وو لویدلی نو امساک دې وکړي باقی ورځ او قضاء دې راوړي او کفاره دې نه ورکوي ،لکه چې عمدا خوراک وکړي په هیره تر خوراک کولو څخه وروسته ،او په ویده ښځه او په لیونی ښځه (کفاره نشته) له کومې سره چې جماع شوي وي .

تشریح:(۵٦)قوله ولوقدم مسافرالخ،شرط دی اوامسک یومه وقضی الخ یې جزاده ،یعنی که مسافر درمضان المبارک په ورځ کې کورته راغی او له سهاره څخه یې روژه نه وه نیولې نو پر دې شخص د روژه دار و په شان باقی ورځ له مفطراتو یعنی خورک څښاک او جماع کولو څخه اجتناب کول واجب دی او دا وجوب درمضان دمقدس وخت دحق اداء کولو لپاره دی ،وروسته دې د دې قضاء وکړي ،دقضاء حکم په دې صورت کې دی چې ده له طلوع فجر څخه وروسته څه شی خوړلی وي یا خو یې څه شی خوړلی نه وي مګر له نصف النهار څخه وروسته کورته راغی نو اوس ځکه چې دنیت صوم وخت تیر شوی دی لهذا د دې ورځې قضاء راوړل وروسته ضروري دي ،همدا حکم دهغې ښځې هم دی کوم چې د ورځې په بعض حصه کې له حیض څخه پاکه شي .

(۵۷)یعنی که درمضان په شپه کې چا په دې ګمان سره پیشلمی وکړ چې تر اوسه پورې صبح صادق نه ده ختلې حال دا چې وروسته معلومه شوه چې صبح صادق شوې وو نو په دې صورت کې په دې شخص باندې دوخت دحق په وجه سره پاتې ورځ له مفطراتو څخه اجتناب کول واجب دې وروسته به د دې ورځې قضاء راوړي ځکه چې روژه داسې حق شرعی ده چې په فوت کیدلو سره نه ساقطیږي بلکه د دې ضمان بالمثل واجبیږي ،البته پر ده کفاره نشته ځکه چې دعدم قصد په وجه سره جنایت کامل نه دی قاصر دی .

(۵۸)همدا شان که چا دا ګمان وکړ او روژه یې ماته کړه چې لمر لویدلی دی بعد کې معلومه شوه چې لمر نه وو لویدلی نو په دې صورت کې هم بقیه ورځ دحق وخت له وجهې پر ده امساک او بعد کې قضاء لازمه ده ځکه چې روژه داسې حق شرعی ده چې په فوت کیدلو سره نه ساقطیږي بلکه د دې ضمان بالمثل واجبیږي ،البته پر ده کفاره نشته ځکه چې دعدم قصد په وجه سره جنایت کامل نه دی قاصر دی .

(۵۹)قوله کاکله عمدا ای کمایجب القضاء فقط باکله ،یعنی پورته ذکر شوي صورتونه داسې دي لکه چې یو څوک په هیره سره څه وخوري او دا یې ګمان شي چې روژه ماته شوه بیا په قصد سره خوراک وکړي نو پر ده د دې روژې قضاء شته مګر کفاره نشته ولی چې په هیره سره له خوراک کولو وروسته شبه پیدا شوه او کفاره د شبهې په وجه سره ساقطیږي ،دا د امام ابو حنیفه رحمه الله قول دی حال دا چې صاحبین فرمایي چې د جنایت په وجه سره پر ده کفاره لازمه ده .

ف. مفتی به قول د امام ابو حنیفه رحمه الله دی : کمافی البحر :وانما لم تجب الکفارة بافطاره عمدا بعد اکله وشربه او جماعه ناسیا لانه ظن فی موضع الاشتباه بالنظیر وهو الاکل عمدا لان الاکل مضاد للصوم ساهیا او عامدا فاورث شبهة ......واطلقه فشمل ما اذا علم بانه لا یفطره بان بلغه الحدیث او الفتوی اولا وهو قول ابی حنیفة رحمه الله وهو الصحیح (البحر الرائق:۲/۲۹۳)

(٦٠) د مصنف رحمه الله قول ، ونائمة ومجنونة ، معطوف دی پر ، اكله عمدا باندي ، اى كما يجب القضاء فقط على نائمة ومجنونة وطئتا ، يعنى د پورته ذكر شوي صورت په شان دا صورت هم دی چې له روژه داري ښځې سره د خوب په حالت کې جماع وکول شي نو پر دي ښځې باندي قضاء لازمه ده ځکه چې منافی صوم متحقق شو . مګر کفاره نشته ولی چې له دي ځخه د جماع صدور بلا قصده وشو ، همدا حکم د دي صورت هم دی چې له روژه داري مجنونې سره جماع وکول شي د کوم چې صورت دا دی چې يوي روغې ښځې په شپه کې د روژي نيت وکړ بيا په ورځ کې پر دي جنون طاری شو او خاوند له دي سره جماع وکړه نو پر دي ښځې کفاره نشته صرف قضاء شته البته که واطی روژه دار وو نو پر ده کفاره او قضاء دواړه لازم دي كما فی الشامية : اما الواطی فعليه القضاء والكفارة اذ لا فرق بين وطئه عاقلة او غيرها (ردالمحتار : ٢/١١٣)

ف : دامام شافعی او زفر رحمهما الله تعالى په نزد په نائمه او مجنونه باندي قضاء هم نشته هغوئ قياس کوي پر هيره باندي په خوراک کونکی باندي ، مګر دوئ ته ځواب ورکړل شوی دی چې د نسيان په صورت کې د قضاء نه لازم والی له نص ځخه خلاف قياس ثابت ده لهذا پر دي نائمه او مجنونه قياسول صحيح نه دي .

فَصْلٌ

کله چې مصنف رحمه الله له هغو روژو ځخه فارغ شو د کومو وجوب چې د الله تعالی له طرف ځخه دی نو اوس يې د هغو روژو بيان شروع کړ کومې چې انسان په خپله پر ځان لازموي کوم ته چې نذر ويل کيږي ځرنګه چې واجب بايجاب الله تعالى فرض دی او واجب بايجاب العبد واجب دی له دي وجهې يې واجب بايجاب الله تعالى وړاندي ذکر کو .

ف : (١) د شي منذور لپاره شرط دا ده چې دده له جنس ځخه به په شريعت کې هم واجب وي که دده له جنس ځخه په شريعت کې واجب نه وو نو دده نذر نه صحيح کيږي لکه د نا روغ د عيادت نذر کول ځرنګه چې د دي له جنس ځخه کوم شی واجب نشته لهذا داسي نذر صحيح نه دی . (٢) دوهم شرط دا دی چې منذوربه په خپله مقصود وي د کوم بل عبادت لپاره به وسيله نه وي نو دا او داسې نذر کول صحيح نه دي ځکه چې او دس په خپله مقصود نه دی بلکه د لمانځه وغيره لپاره وسيله ده . (٣) شی منذوربه معصيت نه وي لکه غير الله ته د سجدي کولو نذر کول نو ځرنګه چې دا فعل حرام دی لهذا د دي نذر کول جائز نه دی . (كذا فى الهندية : ١/٢٠٨)

(٦١) من نَذَرَ صَوْمَ يَوْمِ النَّحْرِ أَفْطَرَ وَقَضَى (٦٢) وَإِنْ كَانَ نَوَى يَمِيناً كَفَّرَ أَيْضاً (٦٣) وَلَوْ نَذَرَ صَوْمَ هذِهِ السَّنَةِ أَفْطَرَ أَيَّاماً مَنْهِيَّةً وَهِيَ يَوْمَا الْعِيدِ وَأَيَّامَ التَّشْرِيقِ وَقَضَاهَا (٦٤) وَلَا قَضَاءَ إِنْ شَرَعَ فِيهَا ثُمَّ أَفْطَرَ

ترجمه : چا که د يوم النحر د روژي نيولو نذر وکړ نو هغه دي افطار وکړي او قضاء دي راوړي ، او که ده د قسم نيت هم کړی وو نو کفاره دي هم ورکړي ، او که يې نذر وکړ د دي پوره کال د روژو د نيولو نو افطار دي وکړي په ايام منهيه کې او هغه د عيد ينو دوې ورځې دي او ايام تشريق دي او د دوئ قضاء دي راوړي ، او قضاء نشته که يې روژه شروع کړه په دي ورځو کې او بيا يې افطار وکړ .

تشريح : (٦١) يعنى که يو چا په يوم نحر کې د روژي نيولو نذر وکړ مثلا و يې ويل : لله على صوم يوم النحر ، (پر ما د خدای جل جلاله لپاره د لوی اختر د ورځې روژه لازمه ده) نو دا نذر صحيح دی ځکه په يوم نحر کې روژه نيول

بنفسه مشروع ده البته دغيرپه وجه سره ممانعت راغلی دی او هغه دالله تعالی له ضيافت څخه اعراض کول دي لکه چې په حديث شريف کې دي ﴿الا لاتصوموا فی هذه الايام فانها ايام اکل وشرب وبعال﴾ (خبردار! په دي ورځوکې روژه مه نيسئ ځکه چې داورځې دخورک څښک اوجماع دي)نودبنفسه مشروع والی په وجه سره نذرصحيح دی ليکن په دي ورځ دي روژه نه نيسې بلکه بعدکې بياقضاء راوړي ترڅوله معصيت څخه خلاص شي کوم چې دالله تعالی له ضيافت څخه داعراض کولوپه وجه سره له روژي سره متصل شوی دی.

ف: ليکن که ده له ممنوع والی سره سره په دي ورځ روژه ونيوله نوددده نذرپوره شوځکه چې په کوم ډول سره چې ده دروژي التزام کړی وو په هغه ډول سره روژه ده ونيوله يعنی ددي روژي په نذرکولوسره چې کومه روژه پرده واجبه شوی ده هغه ناقصه ده اوده هم ناقصه اداء کړه ځکه نودده ذمه فارغيږي.(کذافی الهندية ۱/۲۱۰:)

(۶۲)اوکه ده له نذرسره دقسم نيت هم کړی وو اوبيايې روژه ماته کړه نودطرفينوپه نزدځرنګه چې داندراويمين دواړه دي لهذا له قضاء سره به کفاره يمين هم اداء کوي ،حال داچې دامام ابويوسف رحمه الله په نزدپه دي صورت کې پرده صرف نذردی کفاره يمين نشته ځکه چې په دي کلام کې نذرحقيقت اويمين مجازدی نوکه نذراويمين دواړه مرادشي نوجمع بين الحقيقة والمجازبه لازمه شي کومه چې جائزنه ده له دي وجهې نودواړه نشي مرادکيدلی ،بياځرنګه چې داکلام په نذرکې حقيقة دی په دي وجه سره به ددواړونيت کولوپه صورت کې حقيقت ته ترجيح ورکول کيږي لهذاداکلام به صرف نذروي .دطرفينودليل دادی چې مذکوره کلام دوجوب لپاره وضع شوی دی البته داکلام په وجوب کې دننه په دوه جهته (يعنی جهة نذراوجهة يمين)سره مستعمل دی اوپه دواړوجهتونوسره عمل کول هم ممکن دی ځکه چې په دي دووجهتونوکې څه منافات نشته نوله جهة نذرسره سره دجهة يمين په رعايت کولوسره موږوويل چې ديمين کفاره به هم اداء کوي.

ف: دطرفينوقول راجح دی لماقال العلامة الحصکفی :وان نواهمااونوی اليمين بلانفی النذرکان فی الصورتين نذراويمينا حتی لوافطريجب القضاء للنذروالکفارة لليمين عملابعموم المجاز (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار: ۲/۱۳۶)

(۶۳)که يوچاد ټول کال دروژي نيولونذروکړنوداکس به په ايام منهيه کې روژه نه نيسې ځکه چې په دي ورځوکې دروژي نيولوممانعت راغلی دی ﴿ قال النبی ﷺ الالاتصوموا فی هذه الايام فانها ايام اکل وشرب وبعال﴾ (خبردار! په دي ورځوکې روژه مه نيسئ ځکه چې داورځې دخورک څښک اوجماع دي)،ايام منهيه ټولې پنځه ورځې دي ،دوه ورځې دکوچنی اختراو لوی اختردي اودري ورځې ايام تشريق (يعنی ذی الحجه يولسمه ،دولسمه اوديارلسم تاريخ)دي ،اوددي ورځو دروژودي په وروسته کې قضاء راوړي ځکه چې داروژي بنفسه مشروع دي دممانعت وجه دالله تعالی له ضيافت څخه اعراض کول دي ، لهذادبنفسه مشروع والی په وجه سره ددوئ قضاء لازمه ده.

(۶۴)اوکه چاپه ايام منهيه کې له روژه شروع کولوڅخه وروسته افطاروکړ(يعنی روژه يې ماته کړه)نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپرده قضاء نشته ،حال چې دصاحبينوپه نزدپرده ددغې روژي قضاء لازمه ده ځکه چې په شروع کولوسره داروژه پرده لازميږي لکه چې په نذرکولوسره لازميږي ،دامام صاحب دليل

دادی چې دقضاء لازم بالشروع بناء پردي ده چې په کوم عمل کې شروع شوي وي دهغه اتمام لازم وي حال داچې داخبره دلته نشته ځکه چې په نفس شروع سره داکس دمنهی عنه عمل مرتکب ګرځي دکوم چې دپرېښودلوده ته حکم شوی دی ،حال داچې دنذرحکم له دي ځخه مخالف دی ځکه چې دنذرپه صورت کې ناذرپه نفس نذرکولوسره دمنهی عنه مرتکب نه ګرځي ځکه چې منهی عنه خوپه نذرباندي عمل کول دي نه نفس نذر،له دي وجهې ځخه په ايام منهيه کې روژي شروع کول په نذرباندي قياسول صحيح نه دي .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی کماقال الشيخ عبدالحکيم الشهيدنورالله مرقده: والراجح والصحيح قول الامام اعنی قوله الثابت بالظاهر الرواية واليه اشار صاحب الهداية حيث صرح بانه ظاهر الرواية وكذاقوله وهو الاظهر وفي الشامية والبحر الرائق انه لايعدل عن ظاهر الرواية الا اذاصرح اهل الترجيح والفتوى بخلافه ولم يوجدههنافكان هو المذهب.

ف:داکثرعواموله طرفه چې دمرده ګانولپاره کوم نذرونه کيږي اودبزرګانوپه قبرونوچې کومې موم بتی،خوشبواوروپی پاشل کيږي ،له کوموځخه چې مقصداورګانوخوشحالول اوددوئ تقرب حاصلول وي،داټول باتفاق ايمه حرام اوباطل دي ،اوددي دحرام اوناجائزوالی ځوجوهې ليکلې دي ،يوخودا چې دادمخلوق لپاره نذرمنل دي حال داچې نذرعبادت دی کوم چې په الله تعالی پسې مخصوص دی . دوهم :داچې دچالپاره يې نذرکړی دی هغه خومرده دی نوهغه دکوم شي لپاره ځرنګه مالک کيدای شې ، اودريم :داچې په دي مرده باندي دااعتقادهم کيږي چې دی په عالم کې تصرف کوي، داعقيده لرل کفردی کمافی شرح التنوير:واعلم ان النذرالذی يقع للاموات من اکثرالعوام ومايؤخذمن الدراهم والشمع والزيت ونحوها الی ضرائح الاولياء الكرام تقربااليهم فهوبالاجماع باطل وحرام،وقال ابن عابدين:(قوله باطل وحرام)لوجوه منهاانه نذرلمخلوق والنذرللمخلوق لايجوزلانه عبادة والعبادة لاتكون لمخلوق ومنهاان المنذورله ميت والميت لايملک ومنهاانه ان ظن ان الميت يتصرف فی الاموردون الله تعالی واعتقاده ذلک كفر(ردالمحتار:٢/١٣٩)

بَابُ الاِعْتِكَافِ

دباب داعتکاف په بيان کې دی

اعتکاف له عکوف ځخه ماخوذدی لغوی معنی يې لازم نيول ،اوحبس اومنع ده اودشريعت په اصطلاح کې داعتکاف په نيت په مسجدکې پاته کيدلوته اعتکاف ويل کيږي .دباب اعتکاف له باب الصوم ځخه دوروسته راوړلووجه داده چې صوم داعتکاف لپاره شرط ده اوشرط طبعاله مشروط ځخه مقدم وي لهذامصنف رحمه الله وضعاهم مقدم کړ.

(٦٥)سُنَّ لُبثٌ في مسجدٍ بصومٍ ونيةٍ (٦٦)وأقلُّهُ نفلاً ساعةٌ(٦٧)والمرأةُ تَعتكِفُ في مسجدِ بيتِها(٦٨)ولا يخرجُ منه إلّا لحاجةٍ شرعيةٍ كالجمعةِ او طبيعيةٍ كالبولِ والغائطِ(٦٩)فإن خرجَ ساعةً بلا عذرٍ فسدَ(٧٠)وأكلُهُ وشربُهُ ونومُهُ ومبايعتهُ فيه وكرهَ إحضارُ المبيعِ

ترجمه:سنت دی په مسجدکې پاته کيدل له روژي اونيت سره ،اولږترلږه نفلی اعتکاف يوګړی دی ،اوښځه دي اعتکاف کوي دخپل کورپه مسجدکې ،اونه دي وځي له مسجدځخه مګردشرعی حاجت لپاره لکه جمعه اوطبعی حاجت لپاره لکه بولی اوغائط ،نوکه راووتی يوګړی بلاعذره نواعتکاف فاسدشو ،اودده خوړک ځښک،ويده کيدل اواخيستل خرڅول به په مسجدکې وي اومکروه ده حاضرول دمبيع مسجدته .

تشريح :اعتكاف پردري قسمه دى. /نمبر۱. واجب. كوم چې دنذرپه طريقه سره لازم كړل شي. /نمبر۲. سنت مؤكده. كوم چې درمضان المبارك په اخري عشره كې كيږي. /نمبر۳. مستحب. كوم چې له دې دووڅخه علاوه وي. (كذافى الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: ۲/۱۴۱)

(۶۵)مصنف رحمه الله فرمايي چې په مسجدكې پاته كيدل له روژي اونيت سره سنت دى، دلته چې مصنف رحمه الله اعتكاف ته سنت ويلې دې له دې څخه مراددادوهم قسم دى، اودوهم قسم دسنت والى دليل دادى چې نبى كريم ﷺ درمضان شريف په اخرى عشري كې په اعتكاف كولوباندي مواظبت فرمايلې دى، مګرپه صحابه كرامو رضي الله عنهم كې چې كوموكسانو درمضان په اخيري عشري كې اعتكاف نه ده كړى نبى كريم ﷺ په هغوئ انكارهم نه ده كړى لهذادادې دليل دى چې درمضان په اخرى عشري كې اعتكاف سنت كفايې دى.

ف:بياپه مسجدكې پاته كيدل ركن دى ځكه چې اعتكاف په پاته كيدلوسره موجوديږي، اوروژه داعتكاف واجب لپاره خوشرط ده، باقى دنفل اعتكاف لپاره شرط ده اوكه نه ده په دې باره كې روايات مختلف دې ظاهرروايةدعدم اشتراط دى اودحسن بن زيادپه رواية شرط ده .عدم اشتراط راجح ده لمافى الهندية :وظاهر الرواية عن ابى حنيفة وهو قولهماان الصوم ليس بشرط فى التطوع (الهندية: ۱/۲۱۱)

ف:دعلامه شامى رحمه الله له تحقيق څخه معلوميږي چې دسنت اعتكاف لپاره هم روژه شرط ده، اوپه متونوكې نه ذكركول په دې وجه څخه ده چې عادةً مسنون اعتكاف له روژي څخه بغيرنه كيږي لهذاكه چاپه اخري عشره كې اعتكاف كاوو مګردمرض وغيره په وجه سره يې روژي نه ونيولې نوپه دې اعتكاف سره سنت نه اداء كيږي بلكه دااعتكاف به نفل ګڼل كيږي كمافى الشامية:قلت ومقتضى ذالك ان الصوم شرط ايضافى الاعتكاف المسنون لانه مقدربالعشرالاخيرحتى لواعتكفه بلاصوم لمرض اوسفرينبغى ان لايصح بل يكون نفلافلاتحصل به اقامة سنة الكفاية (ردالمحتار: ۲/۱۴۱)

ف:نيت ځكه چې په ټولوعباداتومقصوده وكې شرط دى لهذاداعتكاف لپاره هم شرط دى، اودنارينه په حق كې داعتكاف له شروط جوازڅخه مسجدوالى اومسجدبه هم داسې وي چې دهغه لپاره امام اومؤذن وي اوپه ده كې پنځه سره لمونځونه ياځينې لمونځونه په جماعت سره اداء كيږي، ﴿لحديث حذيفة رضي الله عنه لَا اعْتِكَافَ إِلَّا فِي مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ﴾ (يعنى اعتكاف نشته مګرپه مسجدجماعة كې)وفى الهندية :واماشروطه فمنهاالنية حتى لواعتكف بلانية لايجوزبالاجماع ومنهامسجدالجماعة فيصح فى كل مسجدله اذان واقامة هو الصحيح (هندية: ۱/۲۱۱)

(۶۶)دنفلى اعتكاف لږترلږه مده يوساعت ده داامام محمد رحمه الله مذهب دى اودامام ابويوسف رحمه الله په نزدلږمده ديوې ورځې اكثره حصه ده، اودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدكمه مده يوه كامله ورځ ده .په اقله نفلا .كې نفلا بناء برحاليت منصوب دى اى حال كونه نفلا ،له امام ابوحنيفة رحمه الله څخه ظاهرروايت هغه دى كوم چې دامام محمد رحمه الله قول دى اوهمدامفتى به دى كمافى شرح التنوير:(واقله نفلاساعة)من ليل اونهار عندمحمدوهو ظاهر الرواية عن الامام لبناء النفل على المسامحة وبه يفتى (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: ۲/۱۴۲)

(۶۷)ښځه به دخپل كورپه مسجدكې اعتكاف كوي ځكه چې دكورمسجدښځې لپاره ډيرمحفوظ دى اودكورله مسجدڅخه مرادهغه ځاى دى چيرته چې دالمونځ كوي ځكه چې اعتكاف

دلمانځه دانتظارعبادت دی اوښځه په مسجد بيت کې دلمانځه انتظارکوي نه په شرعی مسجدکې لهذا په شرعی مسجدکې دښځې اعتکاف کول مکروه دي.

ف:نوکه ښځې دلمانځه لپاره په کورکې کوم داسې ځای نه متعين کړی چې په هغه کې دي لمونځ کاوو نوبياپه باقی مانده کورکې دښځې اعتکاف کول صحيح نه دي ،اوکه يې داراده اعتکاف پروخت دلمانځه لپاره ځای متعين کړنوهم صحيح دی کمافی شرح التنوير: ولايصح فی غيرموضع صلاتهامن بيتها کمااذالم يکن فيه مسجد.قال ابن عابدين :(قوله کمااذالم يکن فيه مسجد)ای مسجدبيت وينبغی انه لواعدته للصلوة عندارادة الاعتکاف ان يصح (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۱۴۰)

(۶۸)يعنی دمعتکف لپاره له مسجدڅخه وتل جائزنه دي مگرددووضرورتونولپاره يودينې لکه دجمعه وغيره لپاره وتل، دوهم ضرورت طبعي لکه ديول وبرازلپاره وتل ،دضرورت دينې يعنی جمعه لپاره وتل په دي وجه جائزدی چې جمعه واجب بايجاب الله تعالی ده اواعتکاف واجب بايجاب العبددی اودبنده دواجب کړي مرتبه دالله تعالی له واجب کړي څخه کښته ده لهذاداعتکاف په وجه سره جمعه ساقطول جائزنه ده،اوددي واقع والی له وړاندي څخه معلوم هم دی لهذا ددي لپاره وتل به له اعتکاف څخه مستثنی وی،اودضرورت طبعي لپاره دوتلودليل دحضرت عائشې ﷺ حديث دی فرمايي:﴿کان النبی ﷺ لايخرج من معتکفه الالحاجة الانسان ﴾(يعنی نبی کريم ﷺ به له خپل معتکف څخه نه راوتی مگر دضرورت انسانې لپاره)،همدارازدضرورت انسانې پېښيدل له وړاندي څخه لامعلوم دی چې ددي لپاره وتل ضروري ده لهذاددي ضرورتونولپاره له اعتکاف څخه وتل په خپله له اعتکاف څخه مستثنی دی.

ف:که په مسجدکې دننه داودس کولوداسې ځای وي چې اوبه له مسجدڅخه دباندي توييږي نوله مسجدڅخه دباندي وتل جائزنه دي که نه نو جائزدي اودس خواه که دفرض لمانځه لپاره وي يادنفل ياتلاوت اوياذکرلپاره وي دټول همدا حکم دی ،دلاسونوپريمنځلولپاره وتل جائزنه دي په مسجدکې دي په يولوښي کې پريمنځي .(احسن الفتاوی:۴/۵۱۰)

ف:له غسل فرض څخه ماسوادکوم بل غسل لپاره دمعتکف له مسجدڅخه وتل صحيح نه دي (خيرالفتاوی:۱۳۳/۴. وامدادالاحکام :۲/۱۴۹)ليکن په احسن الفتاوی کې راغلی دي چې دغسل جمعه لپاره وتلی شې ،ښه خبره داده چې دحاجت ضروريه لپاره له وتلوڅخه وروسته هلته په غسل خانه کې داوس پرځای زرزرغسل وکړي نودجمعه غسل به هم وشې اومستقل دغسل جمعه لپاره وتل به هم رانه شي.

ف:داعتکاف په نذرکې دجنازي دلمانځه ،عيادت مريض ،اودعلم په مجلس دحاضريدلولپاره دخروج استثناء صحيح ده اووتل جائزدي په دي شرط چې دنذرپه شان به يې استثناء هم په ژبه سره کړي وي ،صرف دزړه نيت کافی نه دی مگرکه يې په مسنون اعتکاف کې دانيت وکړنوهغه نفل گرځي سنت نه اداء کيږي مسنون اعتکاف صرف هغه دی په کوم کې چې څه استثناء نه وي کړل شوي په دي کې وتل مفسددي البته دتقضاء حاجت دضرورت لپاره په وتلويې وليدل چې په لاره کې دجنازي لمونځ شروع کيږي نوپه دي کې شرکت کولی شي له لمانځه څخه وړاندي انتظاراوله لمانځه څخه وروسته هلته پاته کيدل جائزنه دی

همداشان دقضاء حاجت لپاره په خپله لاره کې په تلوتلوسره دمريض عيادت کولی شي دعيادت مريض او جنازي دلمانځه لپاره له لاري څخه اوښتل ياپاته کېدل جائز نه دي. (احسن الفتاوی: ۵۰۹/۴)

(۶۹)نوکه له دي ضرورتونه څخه بغيرمعتکف له مسجدڅخه دلږوخت لپاره ووتی نودامام ابو حنيفة رحمه الله په نزدده اعتکاف فاسديږي ځکه چې لبث فی المسجد داعتکاف رکن دی اوله مسجد څخه وتل ددي ضددی اوشی دخپل ضدپه تحقق سره فوت کيږي ،لهذاپه خروج عن المسجدسره اعتکاف فوت کيږي خواه که خروج قليل وي اوياکثيروي. دصاحبينوپه نزدچې کله له نصف ورځې څخه زيات بلاعذرله مسجدڅخه دباندي پاته نشي اعتکاف نه فاسديږي ځکه چې دلږوخت لپاره له مسجدڅخه وتل دضرورت له کبله معاف دي اوپات معاف نه دی ،په قليل اوکثيرکې حدفاصل له نيمې ورځې څخه زائددی.

ف:دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی کمافی الدرالمختار:فلوخرج ولوناسياساعة بلاعذرفسدفيقضيه الااذافسده بالردة واعتبراا كثرالنهارقالواهوالاستحسان وبحث فيه الكمال،وقال ابن عابدين:وقداطال (الكمال)فی تحقيق ذالک کماهوداٻه فی التحقيق رحمه الله تعالی وبه علم انه لم يسلم کونه استحساناحتی يکون ممارجح فيه القياس علی الاستحسان کماافاده رحمتی فافهم (الدرالمختارمع الشامية :۱۳۵/۲)

ف:په عشره اخيره رمضان کې په مسنون اعتکاف کې صرف دهغې ورځې قضاء واجب ده په کومه ورځ چې اعتکاف فاسدشو ،له فسادڅخه وروسته دااعتکاف نفل شوديوي ورځې قضاء که يې خوښه شوه په رمضان کې دي وکړي اويادي له رمضان څخه وروسته له نفل روژې سره وکړي که اعتکاف په ورځ کې فاسدشوی وو نوصرف دورځې قضاء واجب ده اوکه په شپه کې فاسدشوی وو نودشپې اوورځې دواړوقضاء واجب ده. (احسن الفتاوی:۵۱۴/۴)

(۷۰)قوله اوکله وشربه الخ ای جازاکله وشربه ....فيه ای فی المسجد،يعنی دمعتکف خورک څښک ،خوب اواخيستل خرڅول په مسجدکې جائزدي ځکه چې په دي کارونوکې څه داسې شی نشته کوم چې له مسجدسره منافی وي اوپه خپله نبی کريم ﷺ داعتکاف په حالت کې په مسجدکې خوراک کاوو لهذاددي امورولپاره له مسجدڅخه دوتلوضرورت نشته ،هوکه دخوراک له کوره څخه دراوړلوانتظام نه وي نودخوراک دراوړلولپاره له مسجدڅخه وتلی شي ځکه چې اوس ضرورت دی ،همداشان کله انسان پخپله خريدوفروش ته محتاج ګرځي بل داسې څوک نشي پيداکولی کوم چې داضرورت پوره کړي لهذاددي ضرورت پيش نظرمعتکف ته دخريدوفروش هم اجازت ورکړل شوی دی،هومبيع مسجدته راوړل مکروه دي ځکه چې مسجدخالص دالله تعالی لپاره دی مسجدته دمبيع وغيره په راوړلوسره دی په حقوق العبادسره مشغولول لازميږي کوم چې جائزنه دی.

ف:دابايديادوساتل شي چې دمعتکف لپاره په مسجدکې دضرورت شی دخپل ځان ياخپل اولادلپاره اخيستل جائزدي باقی دتجارت لپاره خريدوفروخت کول مکروه دي ځکه چې مسجدصرف دالله تعالی دعبادت لپاره خاص دی نومسجدپه اموردنياسره مشغولول مناسب نه دی کمافی شرح التنوير:(وعقداحتاج اليه لنفسه اوعياله فلولتجارة کره،قال ابن عابدين:(قوله فلولتجارة کره)ای وان لم يحضرالسلعة واختاره قاضيخان ورجحه الزيلعي لانه منقطع الی الله تعالی فلاينبغی له ان يشتغل بامورالدنيا(الدرالمختارمع ردالمحتار:۱۳۶/۲)

(۷۱)وَالصَّمْتُ (۷۲)وَالتَّكَلُّمُ إِلَّا بِخَيْرٍ (۷۳)وَيَحْرُمُ الْوَطْءُ وَدَوَاعِيهِ (۷۴)وَبَطَلَ بِوَطْئِهِ (۷۵)وَلَزِمَتْهُ اللَّيَالِي أَيْضًا

.نذر اعتكاف أيام و لياليها بنذر يومين

ترجمه:او(مكروه ده)خاموش اوسيدل ،اوخبري كول مګردخيرخبري ،اوحرام ده وطى اودواعى دوطى ،اواعتكاف باطليږي په وطى سره ،اولازميږي دشپواعتكاف هم دورځوداعتكاف په نذركولوسره اوددووشپواعتكاف ددووورځوپه نذركولوسره .

تشريح:(۷۱)قوله والصمت اى كره الصمت الذى يعتقده قربة ،يعنى دمعتكف لپاره دعبادت په ډول سره خاموش اوسيدل مكروه دي(يعنى چې خاموشۍ عبادت وګڼي)ځكه چې دخاموشۍ روژه په مخكينيوشريعتونو كې وه زموږپه شريعت كې نشته اوكه خاموشي عبادت ونه ګڼي نومكروه نه ده ﴿ لقوله ﷺ من صمت نجا ﴾ (څوک چې خاموش شوهغه خلاصى ومونده)،باقى له شركې خبروڅخه خاموش پاته كيدل واجب دي دمعتكف اوغيرمعتكف دواړولپاره .

(۷۲)قوله والتكلم الابخيراى وكره التكلم فى المسجدالابخير،يعنى داعتكاف په حال كې په مسجدكې بلاضرورت خبري كول هم مكروه دي ،هودضرورت په قدرخبري كول مثلادرس تدريس ،وعظ اوقصص انبياوغيره بيانولى شې په دي كې څه كراهت نشته ځكه چې نبى كريم ﷺ داعتكاف په حال كې له خلكوسره دضرورت خبري كولى .

(۷۳)يعنى دمعتكف لپاه بحالت اعتكاف جماع كول حرام ده لقوله تعالى ﴿ وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾(مه كوى مباشرت له ښځوسره په داسې حال كې چې تاسې په مساجدوكې معتكف ياست)، همداشان دمعتكف لپاره دواعى جماع هم ممنوع دي ځكه چې جماع ممنوع ده نوددي دوعې به هم ممنوع وي لهذاكه په مچه اخيستلويامس كولوسره انزال وشونودده اعتكاف فاسديږي اوپرده قضاء لازمه ده .

ف:داشكال كيداى شې چې په مسجدكې به دجماع نوبت څرنګه راشې ؟ځواب :ددي صورت په دي ډول سره ممكن دى چې معتكف دحاجت انسانې لپاره له مسجدڅخه راووځې اوجماع وكړي نودي لره داويل صحيح دي چې ده داعتكاف په حالت كې جماع وكړه ځكه چې دضرورت لپاره په وتلوسره له ده څخه داعتكاف نوم نه زائليږي.

(۷۴)يعنى كه معتكف داعتكاف په حالت كې جماع وكړه نودده اعتكاف باطل شوخواه كه انزال وي اوكه نه وي ځكه چې دجماع په اعتكاف كې ممنوع والى په نص سره ثابت ده لكه چې په حالت احرام كې ده نولكه څرنګه چې په جماع سره احرام باطليږي همداشان په جماع سره اعتكاف هم باطليږي ،خواه كه په ورځ كې جماع وكړي اوكه په شپه كې ځكه چې شپه هم داعتكاف محل ده لهذاكوم شى چې په ورځ كې داعتكاف مبطل دى هغه په شپه كې هم مبطل دى .

ف:اوجماع عامه ده خواه كه عمداوي ياپه هيره سره وي ،دامام شافعى رحمه الله په نزدپه هيره سره جماع مفسده نه ده، داحنافوپه نزدنسيان په دي وجه سره عذرنه دى چې حالت اعتكاف.يعنى په مسجدكې پاته كيدل هروخت يادده‌انى كوي چې ته په اعتكاف كې يې له مفسدات اعتكاف څخه ځان ساته لهذانسيان عذرنه دى كمافى الهندية :والجماع عمدا اوناسياليلااونهارايفسدالاعتكاف انزل اولم ينزل وماسواه يفسداذانزل وان لم ينزل لايفسد(هندية:۱/۲۱۳)

(۷۵)يعني كه چاد څوورځو اعتكاف پرځان لازم كړمثلا ويې ويل :چې د الله تعالى لپاره پرما دلس ورځو اعتكاف لازم دى،نو دد ي شپو اعتكاف هم لازميږي ،همداشان كه يې ددوو ورځو اعتكاف پرځان لازم كړنوله دي ورځوسره ددووشپو اعتكاف هم ضروري دى ځكه چې قاعده داده چې دجمع په صيغه سره دورځوذكركول ددوئ مقابل شپوته هم شامل وي اودجمع په صيغه سره دلياليې ذكركول ددوئ مقابل ورځوته هم شامل وي قال الله تعالى ﴿ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا ﴾ وقال تعالى ﴿ثَلَاثَ لَيَالٍ سَوِيًّا﴾ وجه استدلال داده چې دلته واقعه يوه ده يوځل داپه لفظ ،ايام ،سره تعبيرشوه اودوهم ځل په لفظ ،ليالى ، سره تعبيرشوه نو معلومه شوه چې په دواړوكې ديوه ذكردجمع په لفظ سره دوهم ته هم شامل دى .

كِتَابُ الْحَجِّ

داكتاب دحج په بيان كې دى

دكتاب الحج له ماقبل سرمناسبت دادى چې عبادت پردري قسمه دي ./نمبر۱. محض بدني عبادات لكه لمونځ./نمبر۲.محض مالي عبادات لكه زكوة وغيره./نمبر۳.له دواړوڅخه مركب لكه حج .كله چې مصنف رحمه الله له اولنيو دوڅخه فارغ شونوپه دريم يې شروع وكړه .

لفظ حج په فتح دحاء اوكسره دحاء دواړوسره مستعمل دى په لغت كې مطلقاقصدته ويل كيږي. دځينوپه نزددكوم معظم لورته قصدكولوته حج ويل كيږي اوپه اصطلاح دشرع كې زيارة مكان مخصوص فى زمن مخصوص بفعل مخصوص (يعني په زمان مخصوص كې په مخصوص فعل سره دمكان مخصوص زيارت كولوته حج ويل كيږي).

سوال :مصنف رحمه الله په عنوان كې حج ذكركړى حال داچې په تفصيل كې دعمرې بيان هم كړى دى نوعنوان تفصيل ته شامل نه دى؟

ځواب :ددي وجه يې دحج اشرف والى اوفرض والى بيان كړى دى ياداسې ووايه چې حج پردوه قسمه دى ،حج الاكبركوم ته چې حج الاسلام ويل كيږي ،اوحج الاصغركوم ته چې عمره ويل كيږي ،نوعنوان دواړوته شامل دى .

څوفائدې :(۱)صحيح داده چې حج صرف پردى ملت بيضاء واجب دى ،نبي كريم ﷺ له هجرة څخه وړاندې حجونه كړي دي مګردهغوتعدادمعلوم نه دى اوفرض حج نبي كريم ﷺ په لسم هجرى كال اداء كړى دى.(۲)حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه په نهم هجرى كال باندى حج اداء كړى دى اوپه نهم هجرى كال باندى حج فرض شوى دى .(۳)په حج كې دري شيان فرض دي ،احرام ،وقوف عرفه اوطواف زيارت ، اوپنځه شيان واجب دي ،وقوف مزدلفه ،رمى الجمار ،حلق ياقصر ،سعى بين الصفاوالمروة اوطواف صدر ،مګرواجبات حج ځينوحضراتوترپنځه ديرشو شماركړي دي ،باقى له دي څخه علاوه سنن اواداب دي .

الحكمة :شرع الحج للمسلمين ليجتمعوا الى صعيد واحد على اختلاف اجناسهم ومذاهبهم وبعد بلادهم واقطارهم كماقال الله تعالى فى كتابه العزيز (واذن فى الناس بالحج ان يأتوك رجالاوعلى كل ضامر يأتين من كل فج عميق)فاذااجتمعوامن اماكنهم الشاسعة حصل بينهم التعارف

والثالث وعرف العربي الهندي، والتركي الصيني، والمصري الشامي، وهلم جراحتى الهم بهذا الاجماع وهذا التعارف كالاخوة الذين هم من اب واحد وام واحد لرابطة الدين التي جعلتهم كذالك بلافرق بين قبيلة واخرى او عنصر وآخر. (حكمة التشريع)

(۱) هو زيارة مكان مخصوص في زمان مخصوص بفعل مخصوص (۲) فرض مرة على الفور (۳) بشرط حرية وبلوغ وعقل وصحة (۴) وقدرة زاد وراحلة فضلت عن مسكنه وعما لا بد منه ونفقة ذهابه وإيابه وعياله وأمن طريق (۵) ومحرم او زوج لامرأة في سفر (۶) فلو أحرم الصبي او عبد فبلغ او عتق فمضى لم يجز عن فرضه

ترجمه: حج زيارت كول دي د مخصوص مكان په مخصوصه زمانه كې په مخصوص فعل سره، فرض كړل شوى دى يو ځل په فوري ډول سره، ازادي او بلوغ او عقل او صحة او اسلام، او په زادراه او په سورلى باندي د قدرت درلودلو په شرط سره كوم چې زائد وي دده له مسكن او ضروري شيانو څخه او په شرط د تګ راتګ او دعيال د نفقې سره او دلاري له امن سره، او د محرم يا خاوند په شرط سره د ښځې لپاره په سفر كې، نو كه احرام وتاړه هلك يا غلام بيا بالغ شو يا ازاد كړل شو او دده احكام پر ځاى كړونو كفايت نه كوي له فرضي حج څخه.

تشريح: (۱) په مذكوره عبارت كې مصنف رحمه الله د حج اصطلاحي تعريف بيان كړى دى لكه څرنګه چې په شروع كې موږ بيان كړ، (۲) حج په ژوند كې يو ځل فرض دى او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد على الفور فرض دى، د فرضيت دليل يې د بارى تعالى ارشاد دى ﴿ وَلِلّٰهِ على الناس حِجُّ الْبَيْتِ من استطاع اليه سبيلا ﴾ (يعنى د الله لپاره پر خلګو فرض دى د بيت الله حج كول څوك چې دلاري استطاعت ولري)، او د يو ځل فرضيت دليل د اقرع بن حابس رضي الله عنه حديث دى چې نبى كريم ﷺ وفرمايل چې حج يو ځل فرض دى له يو ځل څخه زيات تطوع دى، او د على الفور فرضيت دليل يې دا دى چې په مخصوص وخت يعنى اشهر حج پسې خاص دى له اشهر حج څخه وروسته به باقى كال د حج د اداء كولو وخت نه دى او د راتلونكى پوري په انتظار كولو كې د مرګ راتلو امكان د يل لهذا احتياط په دي كې دى چې د حج وخت تنګ كړل شي او داوويل شي چې په كوم كال د حج شرائط جمع شي په هغه كال حج فرض دى.

ف: حال دا چې امام محمد رحمه الله فرمايي چې حج على التراخي فرض دى د امام محمد رحمه الله دليل دا دى چې حج د انسان د ټول عمر وظيفه ده په ټول عمر كې چې څه وخت وغواړي اداء دي كړي لكه چې د لمانځه لپاره د لمانځه وخت دي، همدا وجه ده چې په ژوند كې څه وخت هم اداء كوي نو دا داء نيت به كوي د قضاء نيت به نه كوي ځكه چې قضاء شوى نه دى، د امام ابوحنيفه رحمه الله هم اصح قول د امام ابويوسف رحمه الله په شان دى او همدا راجع دى كما في شرح التنوير: الحج فرض مرة على الفور في العام الاول عندالثاني واصح الروايتين عن الامام ومالك واحمد (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۲/۱۵۰) خلاصه دا چې د مفتى به قول مطابق د حج اداء كول له وجوب سره فورا واجب ده تر يوه دوه كاله پوري تاخير كول مكروه تحريمي ده له دي څخه زائد انسان مردود الشهارة كرځوي البته كله چې يې هم اداء كړي نو د تاخير به وجه سره لازمه شوي ګناه ختميږي ليكن كه له حج اداء كولو څخه وړاندي وفات شو نو ګناه ګاريږي كما في الشامية: وفي القهستاني فيأثم عند الشيخين بالتاخير الى غيره بلاعذر الا اذا ادى ولو في عمره فانه رافع للاثم بلاخلاف (رد المحتار: ۲/۱۵۲)

ف:داسوال کيداى شي چې که حج على الفورفرض واى نوحج خوپه سنه نهمه هجرى کې فرض شوى وو بيانبى کريم ﷺ تريوه کاله پوري ولې دحج اداء مؤخرکړي وه ؟ځواب :ممکنه ده چې په سنه نهمه هجري کې دي له اشهرحج ځخه وروسته حج فرض شوى وي اوصحيح هم داده ځکه چې حج دعام الوفودپه اواخروکې په سنه نهمه هجري کې فرض شوى وو لهذانبى کريم ﷺ له فرضيت حج وروسته دحج په اداء کولوکې تأخيرنه ده کړى .

ف:که کوم کس دعمري لپاره مکې مکرمې ته ولاړى نوکه له شوال شروع کيدلو ځخه وړاندي واپس راغى نوحج نه ده فرض شوى البته که شوال دوري شروع شواوله ده سره دحج مصارف هم وو نوحج فرض کيږي،که دحکومت له طرفه دحج تروخت پوري دپاته کيدلواجازه نه وي نوپه فرضيت حج کې اختلاف دى راجح داده چې پرده حج بدل کول فرض دى له مکې مکرمې ځخه دي حج بدل وکړي په بعدکې که يې خپله استطاعت پيدا کړنودوهم ځل دي حج وکړي .(احسن الفتاوى:۵۲۹/۴)

(۳)دحج دفرضيت لپاره مختلف قسمه شرائط دي بعض شرائط وجوب دي ،بعض شرائط اداء دي اوبعض شرائط صحة دي مصنف رحمه الله ددوئ ترمنځ تميزنه ده کړى اوځينې يې ترک کړي دي ، (۱)**شرائط وجوب**.شرائط وجوب دادي ،حج کونکى به عاقل وي ،بالغ به وي ،مسلمان به وي ،ازادبه وي استطاعت به لري ،دحج په فرضيت به علم لري ،(۲)**شرائط اداء** ،اوشرائط اداء دادي ،روغ به وي ،موانع حسيه به نه وي ،لاره به په امن وي ،دښځې په حق کې به يوقسم عدة نه وي، اوله ښځې سره به خاونديا کوم محرم وي ،(۳)**شرائط صحت** :،شروط صحت دادي ،احرام به تړي ،اشهرحج به وي ،مکان مخصوص به وي.

مصنف رحمه الله لاندينې شرائط بيان کړي دي ،اول شرط حج کونکى به ازادوي پرغلام حج نه ده فرض ځکه چې حج غالبابغيرله مال ځخه نه شي اداء کيدلى حال داچې غلام هيڅ مال هم نه لري ،دوهم شرط بالغ به وي په کوچنى حج نه ده فرض ځکه چې له ده ځخه عبادات ساقط دي ،دريم شرط عاقل به وي پرمجنون باندي حج فرض نه ده ځکه چې مجنون مرفوع القلم دى لهذاپرده حج فرض نه دى. ځلورم شرط روغ به وي لهذاپه داسې سپين ږيري چې په سورلى باندي نه شي کښېنستلى ،اوپه ناروغ اوپه مفلوج اوپرړانده باندي حج فرض نه دى ځکه چې په عباداتوکې عجزسقوط عبادات مؤثر دى ترڅوچې عذرقائم وي ،اوپه دي خلکوداامام ابوحنيفه رحمه الله دمشهور روايت مطابق وصيت کول هم لازم نه دى په دي شرط چې له عذرځخه وړاندي به يې دحج زمانه نه وي موندلى ليکن په مذکوره ټولوصورتونوکې احتياط دادى چې داخلک دحج بدل وصيت وکړي .

ف:همدادصاحبينومذهب دى اودي ته دصاحب فتح القديروغيررجحان دى ،لماقال ابن عابدين :فلايجب على مقعدومفلوج وشيخ کبيرلايثبت على الراحلة بنفسه واعمى وان وجدقائداومحبوس وخالف من سلطان لابانفسهم ولابالنيابة فى ظاهرالمذهب عن الامام وهوررواية عنهماوظاهرالرواية عنهماوجوب الاحجاج عليهم ويجزيهم ان دام العمروان زال اعادوابانفسهم وظاهرالتحفة اختيار قولهماوکذاالاسبيجابى وقواه فى الفتح ومشى على ان الصحة من شرائط وجوب الاداء (ردالمحتار: ۱۵۳/۲)،پنځم شرط مسلمان به وي پرکافرحج فرض نه دى ځکه چې کافرفى حق الاداء په فروع الايمان سره مخاطب نه دى.

(۴)شپږم شرط دادی چې په سورلی اوپه لاره کې دخوراک څښک اوتلوراتلوپه نوروخرڅوبه قدرت لري کوم چې داوسیدلوله کوراونورضروریاتوڅخه زائدوي ځکه چې داشیان دده په حاجت اصلیه سره مشغول دي ،اودده دبچیانو (دکوموچې خرڅه پرده واجب ده)له خرڅې څخه به زائدوي ځکه چې حق عبدمقدم دی پرحقوق الله باندې ،اوم شرط دادی چې لاربه پرامن وي ځکه چې استطاعت بغیرله امن څخه نه وي حال داچې دفرضیت حج لپاره استطاعت شرط دی .

ف:که چاداسې کوروي چې په هغه کې نه اوسیږي اوچاته یې په کرایه هم نه وي ورکړی یادده غلام وي په کوم چې دی خدمت نه کوي یاسامان وي کوم چې دی نه استعمالوي نوپردې شخص واجب ده چې داشیان خرڅ کړي اودد وئ په قیمت باندې حج وکړي .

ف:زرعې جائدادونه اومکانات وغیره چې له حوائج اصلیه څخه زائدوي نودهغوخرڅول اوفوراحج کول فرض دی اویورپه حاجت اصلیه کې نه دي بلکه له درې جوړوجاموڅخه زائدلباس هم په ضرورت کې داخل نه دی ،نن سبا انجونوته په جهیز کې له ضرورت څخه زائددومره سامان ورکول کیږي چې پردوئ حج فرضیږي که په دې کال نغدی روپۍ نه وي نوسامان دي خرڅ کړي اوحج کول فرض دي تاخیرکول گناه ده. (احسن الفتاوی: ۴/۵۲۶)

ف:په مکه مکرمه اوددې شاوخوااوسیدونکولپاره دسورلی شرط نشته ځکه چې په بلاسورلی په حج کولوکې مشقت نشته ،دحج لپاره تلل دسورلی دنه شرط والی په حق کې ددوئ لپاره دسعی الی الجمعة په شان ده کمافی شرح التنویر:لاالمکی یستطیع المشی لشبهه بالسعی للجمعة(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار: ۲/۱۵۳)

(۵)قوله ومحرم اوزوج لامرأته ای بشرط مرافقة محرم اوزوج لامرأته ،دښځې لپاره که څه هم سپین سری وي یوزیات شرط داهم دی چې له دې سره به عاقل بالغ اوغیرفاسق محرم یاخاوندوي په دې شرط چې هغه به له مکې مکرمې څخه ددرې ورځویاله دې څخه پرزیاته فاصله وي ،بغیرله محرم یاخاوند څخه له دومره فاصلې څخه دښځې حج ته تلل مکروه تحریمي ده ﴿ لقوله ﷺ لاتحجن امرأة الاومعهامحرم ﴾ (یعنی بالکل دې کومه ښځه حج ته نه ځي مگرپه دې حال کې چې له دې سره کوم محرم وي).

ف:داشرط دی چې محرم به فاسق ،مجوسي،هلک یالیونی نه وي ځکه چې له دوئ څخه دحفاظت غرض نه حاصلیږي کمافی شرح التنویر:(بالغ عاقل)......(غیرمجوسی ولافاسق)لعدم حفظهما(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار: ۲/۱۵۸)

دحج په سفرکې دښځې دخاوندوفات کیدل

ف:که په سفرحج یاعمره کې دیوې ښځې خاوندوفات شونودعدة حال له عباداتواوافعال حج څخه مانع نه دی بلکه له سفرڅخه مانع دی ،په هم دې پس منظرکې حنفي فقهاؤددې ښځې لپاره لاندې احکام بیان کړي دي .(الف)که دد ي کورله مسافت سفرڅخه په لږلیرې والی کې وو نوکورته دې واپس شي . (ب)که مکه له مسافت سفرڅخه په لیږلیرې والی کې وه نودحج سفردې جاري وساتي .(ج)که دواړو طرفونوته دمسافت سفرفاصله وه اوپه شهرکې ورودوو یعنی په داسې ځای کې ددې عدة شروع شوی وو ،چیرته چې ددی پاته

کیدل او قیام کول ممکن وو او محرم ورسره نه وو نو په هغه ځای کې دي عدة تیره کړي او د سفر سلسله دي منقطع کړي .(د) او که محرم ورسره وو نو د صاحبینو په نزد دي سفر حج جاري وساتې او د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد دي د سفر سلسله ختمه کړي .

په موجوده زمانه د خپل ملک له حدودو څخه له وتلو وروسته له مکې څخه وړاندي د قانوني مشکلاتو په وجه سره نه قیام ممکن وي او نه له سفر څخه واپسي اسانه وي ،بیا د حج په قافله کې په ډیر تعداد سره ښځې وي ،له دوئ سره دیوي ښځې په او سیدلو کې د فتنې مواقع کم وي له دي وجهې که له خپل ملک څخه له وتلو وروسته خاوند وفات شو نو د حج د سفر د مکمل کولو باید ګنجائش وي ،او د امام شافعی رحمه الله رأیه مختار ول په کار دي چې که په رفقاء سفر کې څه نوري ښځې هم وي نو ښځه بغیر له محرم څخه له دوئ سره سفر حج کولی شې. (جدید فقهی مسائل ۲/۱۸۰)

(۶) که کوم نابالغ هلک یا غلام احرام و تاړه بیا هغه هلک بالغ شو یا غلام ازاد شو او په همدي احرام سره یې حج پوره کړنو د دي حج په اداء کولو سره د ده له ذمې څخه حج فرض نه ساقطیږي ځکه چې په دوئ کې هریوه دا احرام د نفلي حج لپاره تړلی وو لهذا په دي سره فرض حج نه شې اداء کیدلی .

ف:هو نابالغ که له وقوف عرفه څخه وړاندي بنیت فرض حج د احرام تجدید وکړنو فرض حج اد ء کیږي ځکه چې مخکنی احرام دده په حق کې د عدم اهلیت په وجه سره لازم نه وو ،لیکن که غلام په دي وخت کې تجدید احرام وکړنو هم دا احرام له فرض حج څخه کفایت نه کوي ځکه چې د غلام همدا احرام په شروع کولو سره لازم شوی دی لهذا اوس له دې څخه وتل ممکن نه دي. (الدر المختار مع الشامیة ۲/۱۵۹)

الالغاز :ای فقیر یلزمه الاستقراض للحج؟

فقل :من کان غنیا وجب علیه لم استهلکه .(الاشباه و النظائر)

د احرام مواقیت

(۷) وَمَوَاقِيتُ الْإِحْرَامِ ذُو الْحُلَيْفَةِ وَذَاتُ عِرْقٍ (۸) وَالْجُحْفَةُ وَقَرْنٌ وَيَلَمْلَمُ لِأَهْلِهَا وَلِمَنْ مَرَّ بِهَا (۹) وَصَحَّ تَقْدِيمُهُ عَلَيْهَا (۱۰) لَا عَكْسُهُ (۱۱) وَلِدَاخِلِهَا الْحِلُّ (۱۲) وَلِلْمَكِّيِّ الْحَرَمُ لِلْحَجِّ وَالْحِلُّ لِلْعُمْرَةِ

ترجمه: او د احرام مواقیت ذوالحلیفه او ذات عرق، او جحفه او قرن او یلملم دي د دوئ د او سیدونکو لپاره او څوک چې پر دوئ تیریږي ،او صحیح دی احرام مقدم کول په دي مواقیتو باندي ،نه د دي عکس ،او د دوئ د او سیدونکو لپاره حل دی ، او د مکي لپاره حرم دی د حج لپاره او حل دی د عمري لپاره .

تشریح:له دی ځایه څخه هغه مواضع بیانوی په کوموچې د خارجی شخص لپاره بغیر له احرام څخه د مکې مکرمې په اراده سره تیریدل جائز نه دي اګر د افعال حج لپاره نه وي بلکه د تجارت وغیره لپاره وي ،مواقیت د میقات جمع ده د متعین وخت یا متعین مکان په معنی سره ،د لته هغه مواضع مراد دي چیرته چې حجاج کرام احرام تړي او د اپنځه ځایونه دي .

ف: خلک پردري قسمه دي څکه نو ميقاتونه هم پردري قسمه دي (۱) آفاقي: کوم چې په متن کې له مذکوره پنځو ميقاتونو (يعنی ذوالحليفه ،ذات عرق ،جحفه ،قرن اويلملم)څخه باهر (يعنی دباندي) اوسيږي ددوئ لپاره داپنځه ميقاتونه دي. (۲) حِلی: کوم چې دمذکوره پنځوميقاتونواوحرم په منځ کې اوسيږي ددوئ لپاره ميقات حل دی .(۳) حرمی: کوم چې په حدودحرم کې اوسيږي داخلک که حج کول وغواړي نواحرام به له حل څخه تړي اوکه عمره کول وغواړي نوله حرم څخه به احرام تړي .

(۷) بيادآفاقيانو دمختلفو علاقولپاره مختلف ميقاتونه دي دمدينې والوته ذوالحليفه (بفتح الحاء واللام)دی خلک دي ته ابارعلی وايي کوم چې له مدينې منورې څخه په څه کم پنځه ميله کې واقع دی اوله مکې مکرمې څخه دلسوشپوپه مسافت دی ،اودعراق ،خراسان ،ماوراء النهرواهل مشرق لپاره ،ذات عرق (بكسر العين وسكون الراء)دی کوم چې له مکې مکرمې څخه په دري مراحله يعنی شپږديرش ميله کې واقع دی.

(۸) دشام ،مصروغيره لپاره جحفه (بضم الجيم وسكون الحاء)دی کوم چې له مکې مکرمې څخه په دري مراحله يعنی شپږديرش ميله دی ،داهل نجدلپاره يلملم (بفتح الياء ولامين وسكون الميم)دی ديوه غره نوم دی کوم چې له مکې مکرمې څخه په دوه مراحله کې واقع دی په همدي شان سره نبی کريم ﷺ دامواقيت ددي خلکولپاره مقررفرمايلي دي ،اومذکوره بالامقامات لکه څرنګه چې ددي خلکولپاره ميقاتونه دي کوم چې هلته اوسيږي همداشان دهغوخلکولپاره هم دي کوم چې په دي مقاماتوباندي مکې مکرمې ته تيريږي .

(۹) يعنی که له مذکوره بالاميقاتونوڅخه وړاندي چااحرام وتاړه نودافعل جائزدی بلکه افضل دی لقوله تعالى﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ﴾ (يعنی دالله ﷻ لپاره حج اوعمره پوره کړئ)،اودحج اوعمرې دپوره کولومطلب دادی چې ددوئ احرام له خپلوکورنوڅخه په تړلووځي ليکن شرط دادی چې دخلاف احرام کارونودکيدلوانديښنه نه وي .

(۱۰) قوله ولاعکسه يعنی تاخيرالاحرام عن هذه المواقيت ،يعنی دمذکوره بالاصورت عکس جائزنه دی يعنی چې افاقي شخص ددخول حرم په اراده سره له مذکوره بالامقاماتوڅخه دمکې مکرمې طرف ته تيرشي اوبيااحرام وتړي نوداجائزنه دی څکه چې له حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دی چې نبی کريم ﷺ وفرمايل لايدخل احدمكة الاباحرام (له احرام څخه بغيردي څوک مکې ته نه داخليږي).

ف: البته کوم شخص چې دکوم حاجت لپاره مکې ته دداخليدلواراده لري نودده لپاره علماؤداحيله بيان فرمايلي ده چې هغه دي په حل کې ديوځای قصدوکړي له ميقات څخه دي تيرشي مثلاً دخليص ياجده اراده دي وکړي نودده لپاره دخول حل بلااحرام جائزدی بياچې کله هلته ولاړی نواوس دی اهل حل ګڼل کيږي لهذااوس دده لپاره بلااحرامه مکې مکرمې ته داخليدل جائزدي په دي شرط چې دکوم نسک اراده يې نه وي کمافي شرح التنوير: اما لوقصدموضعامن الحل کخليص وجدة حل له مجاوزته بلااحرام فاذاحل به التحق باهله فله دخول مكة بلااحرام وهوالحيلة لمريدذالک .(ردالمحتار: ۲/۱٦۷)

دموټرچلونکي دتګ راتګ حکم

ف:حضرت مولاناسیف الله خالدرحماني مدظله دپورته ذکرشوي صورت اوحیلې په باره کې لیکي :په دې حیله کې چې (دټیکسي ډرائیور،تاجرانووغیره)لپاره کوم تکلف دی هغه خوښکاره دی ،له دې ځخه علاوه خیال دادی چې فقهاؤچې په کوموځایونوکې دحیلې رهنمائي کړي وي هلته دکوم سخت ضرورت په وجه سره په عارضی ډول دهغه عمل دکولو ګنجائش فراهم کول مقصودوي ،اوس هره ورځ راتلونکوتاجرانوته مشوره ورکول چې هغوئ دي هیمشه له دې حیلې ځخه کاراخلې اوحیله دي مستقل عمل جوړکړي ،صحیح نه ښکاریږي ځکه چې په دې شان سره دین دکوچنیانو لوبه جوړیدل اودشریعت داوامرواونواهیوپه حق کې دبې حسې اوبې احترامې دپیداکیدلو خطره ده .

له دې وجې ځخه دددې حقیرداخیال دی چې په دې مسئله کې دائمه ثلاثه پرقول فتوی ورکول په کاردی اوپه حقیقت کې داله یوې فقهې ځخه بلې فقهې ته عدول نه دی ځکه چې عدول هغه وخت وي چې کله ددلیل اوبرهان اختلاف وي،دااختلاف دزمان په بناء داحکامو اختلاف دی ،ولاینکر تغیرالاحکام بتغیرالزمان .(جدید فقهی مسائل:۲/۱۶۳)

ف:نن صبابه دهوایې جهازوالاچیرته احرام تړي ؟په دې باره کې حضرت مولانامفتی محمدشفیع صاحب نورالله مرقده لیکي :نن صباله ممالک مشرقیه ځخه دراتلونکوحجاجولپاره دوه لارې دي یوه هوایې ،بله بحري،دهوایې جهازونولاره عموماً دوچې پرسربراه قرن المنازل وي هوایې جهازد قرن المنازل اوذات عرق دواړو میقاتونوپرسرپه تیریدوسره اول په حل کې داخلیږي اوبیاجدې ته رسیږي په دې وجه سره په هوایې سفرکې خود قرن المنازل پرسرله راتلوځخه وړاندې احرام تړل لازم وواجب دي اوځرنګه چې په هوایې جازونوکې ددې درک لګول تقریباناممکن دی چې څه وخت اوکله به جاز دقرن المنازل په سرتیریږي ځکه نوداهل پاکستان او هندوستان لپاره خواحتیاط په دې کې دی چې په هوایې جازکې له سپریدلوځخه وړاندې احرام وتړي که بغیرله احرام تړلوځخه دهوایې جازپه ذریعه سره جدې ته ورسیدنوده ده پرذمه دم یعنی دیوه پسه قرباني واجب ده اوګناه له دې ځخه علاوه ده دکوم په وجه سره چې حج ناقص ګرځي مقبولیږي نه،ډیرحجاج په دې کې غفلت کوي .(جواهرالفقه ۱/۴۷۵)

ف:البته په هوایې جازکې تلونکې که دقرن المنازل په محاذات کې بغیرله احرام ځخه تیرشول اوبیا جدې ته په رسیدلو یې احرام وتاړه نودمجاوت بغیراحرام ګناه خوضرورشته لیکن دم واجب نه دي ځکه چې دبل میقات طرف ته وتلی دی اوله هغه ځای ځخه احرام تړي .(فتاوی عثماني :۲/۲۱۰)کذافی البدائع :ولوعادالی میقات اخرغیرالذی جاوزه قبل ان یفعل شیئامن افعال الحج سقط عنه الدم.(بدائع الصنائع:۲/۱۶۵)

(۱۱)کوم خلک چې له مذکوره بالامیقاتونو ځخه هغه طرف ته اوله مکې مکرمې ځخه دې طرف ته اوسیږي (یعنی دحرم اومذکوره میقاتونوپه منځ کې اوسیږي)نوددوئ لپاره داحرام تړلومیقات حل (حل بکسرالحاء ځخه مراددحرم اومذکوره بالامواقیت منځنی علاقه ده)دی ،داخلک دخپل کوم حاجت لپاره بغیرله احرام ځخه هم مکې مکرمې ته دخلیدای شي ځکه چې دوئ ته په کثرت سره دتګ راتګ ضرورت پیښیږي نوکه پردوئ باندې هم احرام لازم کړل شي نوپه دې کې ددوئ لپاره حرج دی اوحرج شرعاً مدفوع دی

البته كه داخلك دعمري داحكامو، ياحج اداء كول وغواړي نوددوئ لپاره بغيرله احرام څخه دخول مكه جائزنه دى ځكه چې داكله كله وي.

(١٢)كوم خلك چې په مكه مكرمه كې دننه اوسيږي هغوئ كه حج اداء كوي نودهغوئ لپاره ميقات حرم دى اوكه عمره اداء كوي نودهغوئ لپاره ميقات حل ده ځكه چې نبى كريم دي خلكوته همدا امركاوو، همدارازحج په عرفات كې اداءكيږي اوعرفات په حل كې واقع دى نوله حرم څخه په احرام تړلو كې يوقسم سفركونكې كرځي، اوعمره په حرم كې اداء كيږي نودسفردتحقق لپاره بايداحرام له حل څخه وتړل شي.

ف: دحرم حدودڅه په دي ډول دي چې دمديني منوري په لاره دري ميله دي اوديمن اوعراق اوطائف په لاره اوه ميله دي اودجدې په لاره باندي لس اوله جعرانه څخه نهه ميله دي كمالى شرح التنوير: ونظم حدودالحرم ابن الملقن فقال: وللحرم التحديدمن ارض طيبة: ثلاثة اميال اذارمت اتقانه: وسبعة اميال عراق وطائف، وجدة عشرثم تسع جعرانة: (ردالمحتار: ٢/١٦٩)

بَابُ الْإِحْرَامِ

داباب داحرام په بيان كې دى

كله چې مصنف رحمه الله دهغومواقيتوله بيان څخه فارغ شوله كومو څخه چې بغيراحرام تيريدل جائزنه دي نواوس مناسبه ده چې احرام ذكركړي. احرام په حج كې داسې دى لكه په لمانځه كې تكبيرالافتتاح، اواحرام ته احرام په دي وجه وايې چې په دي سره څه مباح شيان حراميږي، دوقوف عرفات اوطواف زيارت په شان په حج كې احرام هم فرض دى البته فرق دادى چې احرام شرط دى اووقوف عرفات اوطواف زيارت ركن دي.

ف: احرام په لغت كې په حرمت كې دداخليدلوپه معنى سره دى اودفقه په اصطلاح كې دحج ياعمري په نيت سره دمخصوص لباس (بې له كنډلو څخه لنګ اوڅادر)اغوستل، تلبيه ويل، يادحج څاروى له خپل ځان سره روانولونوم احرام دى. داحرام دصحيح والى شرط دحج ياعمري نيت دى اوركن يې تلبيه ويل يادقربانى څاروى له ځان سره روانول دي.

ف: مصنف رحمه الله داحرام داموروپه زده كولودباعثولواوشدت اهتمام لپاره ددي باب مسائل دخطاب په صيغه سره ذكركړي دي ځكه چې داحرام داحكامودزده كولوشديداحتياج دى، ياپه دي وجه سره چې مصنف رحمه الله دامختصردخپل زوى لپاره ليكلى دى لهذادخطاب صيغې دده لپاره دي.

(١٣)وَإِذَا أَرَدْتَ أَنْ تُحْرِمَ فَتَوَضَّأْ وَالْغُسْلُ أَفْضَلُ (١٤)وَالْبَسْ إِزَارًا وَرِدَاءً جَدِيدَيْنِ أَوْ غَسِيلَيْنِ وَتَطَيَّبْ (١٥)وَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ وَقُلْ اللَّهُمَّ إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِي وَتَقَبَّلْهُ مِنِّي (١٦)وَلَبِّ دُبُرَ صَلَاتِكَ تَنْوِي بِهَا الْحَجَّ (١٧)وَهِيَ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ (١٨)وَزِدْ فِيهَا وَلَا تَنْقُصْ

ترجمه: اوكله چې ته اراده وكړي چې احرام وتړي نواودس وكړه اوغسل ښه ده، اوبه تن كړه لنګ اوڅادركه نوي وي كه پريمنځل شوي اوخوشبوولګوه، اولمونځ اداء كړه دوه ركعته اووايه ياالله زه اراده كوم دحج نوته يې اسان كړي ماته او قبول يې كړي له ما څخه، اوتلبيه ووايه له لمانځه څخه وروسته دحج په نيت

کولوسره اوتلبيه داده حاضريم يا الله حاضريم حاضريم ستاهيڅ شريک نشته حاضريم بې شک ټول تعريفونه اونعمتونه تالره دي اوبادشاهي ستاده ،ستاهيڅ شريک نشته ،اواضافه کړه په دي کې اوکم والی مکروه.

تشريح:(۱۳)له دي ځايه مصنف رحمه الله دحج ياعمري لپاره داحرام تړلومسنونه طريقه درښيي چې څوک داحرام تړلواراده وکړي هغه دي اول اودس وکړي مگرغسل افضل دی ځکه چې له نبی کريم ﷺ څخه داحرام لپاره غسل کول مروی دی، البته داغسل څرنگه چې دنظافت لپاره دی په دي وجه اودس هم ددې قائم مقام کيدای شي اوڅرنگه چې په غسل سره نظافت ښه حاصليږي ځکه غسل افضل دی ،باقی ددي غسل دنظافت لپاره کيدل دطهارت لپاره دنه کيدلوعلامه داده چې داغسل دحائضې اونفاسې لپاره هم مسنون دی حال داچې له دوئ څخه حصول طهارت متصورنه دی.

ف:اوڅرنگه چې په دي وخت کې کما ل تنظيف مندوب دی لهذااحرام تړونکی کس دي خپل نوکان اودبغلونواويرناف ويښتان صاف کړي اوکه دسرخريلوعادی وي نوسردي وخريي اوټول بدن دي په اشنان ،گل خطمی ياصابون سره ښه پاک کړي کمافی شرح التنوير:(وکذايستحب)لمريدالاحرام ازالة ظفره وشاربه وعانته وحلق رأسه ان اعتاده والافيسرحه و(جماع زوجته اوجاريته لومعه ولامانع منه)کحيض (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۱۷۰)

(۱۴)بيادي لنگ اوڅادريعنی دوه نوي ياپريمنځل شوي جامې په تن کړي ځکه چې نبی کريم ﷺ دوه جامې (څادر اولنگ)په تن کړي وي ،البته نوي جامې په تن کول افضل دي ځکه چې په دي کې کامل نظافت حاصليږي ولی چې تراوسه دنه استعمال په وجه سره په دوئ څه خيري اونجاست نه دی لگيدلی ،اوکه ازاراورداء نوي نه وي نوبيادي پريمنځل شوي په تن کړي ځکه چې پريمنځل شوي هم په نظافت کې نويوجاموته قريبې دي.

ف:له ازارڅخه مراداسې جامه ده کومه چې له نوم څخه دزنگنونوترکښته پوري وي اوله رداء څخه مراداسې جامه ده کومه چې پرشااوسينه باندي وي کمافی شرح التنوير:(ولبس ازار)من السرة الی الرکبة (ورداء)علی ظهره ,قال ابن عابدين (قوله علی ظهره)بيان لتفسيرالرداء قال فی البحروالرداء علی الظهروالکتفين والصدر(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۱۷۰)

که خوشبوموجوده وه نواستحباباًدي خوشبوهم ولگوي،﴿لحديث عائشة رضی الله عنها قالت کنت اطيب رسول الله لاحرامه قبل ان يحرم﴾(يعنی ماپه نبی کريم ﷺ ته داحرام لپاره خوشبوورلگوله له احرام تړلوڅخه مخکې).

ف:دامام محمد رحمه الله په نزداسې خوشبوئي لگول چې دهغې جرم اوعين له احرام څخه وروسته هم پاتې وي مکروه ده ځکه چې دخولې په راتلوسره داخوشبوبل ځای ته منتقل کيږي نوداله احرام څخه وروسته دابتداء خوشبولگولوپه څيرده ،امام محمد رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې حضرت عائشة رضی الله عنها فرمايي چې مادنبی کريم ﷺ دويښتانوپه لاره کې دنبی کريم ﷺ له احرام تړلوڅخه وروسته دخوشبوځلاوليدله ،ظاهره ده چې حضرت عائشه رضی الله عنها دااداسې خوشبوپه باره کې وايې چې له احرام څخه وروسته دهغې جرم پاته وو نودحضرت عائشې رضی الله عنها له دي حديث څخه معلومه شوه چې داسې خوشبولگول مکروه نه دي.

ف: دراجح قول مطابق له احرام څخه وروسته پربدن دداسې خوشبوپاته کیدل کومه چې ذی جرم وي مکروه نه ده البته پرجامو مکروه ده کمافی شرح التنویر: ویستحب طیب بدنه ان کان عنده لاثوبه بمایبقی عینه هو الاصح: وقال ابن عابدین: (قوله وطيب بدنه) ای استحبابا عندالاحرام زیلعی ولوبمایبقی عینه کالمسک والغالية هو المشهور، وقال بعدسطر: والفرق بین الثوب والبدن انه اعتبر فی البدن تابعا والمتصل بالثوب منفصل عنه. (الدرالمختار مع الشامية: ۲/۱۷۱)

(۱۵) اوس دې دوه رکعته لمونځ اداء کړي﴿ لماروی جابر ﷺ ان النبی ﷺ صلی بذی الحلیفة رکعتین ﴾ (حضرت جابر ﷺ روايت کوي چې نبی کریم ﷺ په ذوالحلیفه کې دوه رکعته لمونځ اداء کړ)، بیاڅرنګه چې حج طویل اومشکل عمل دی لهذاله الله تعالی څخه دې ددې اسانه کولولپاره دادعا وغواړي ،اللهم ان اریدالحج الخ،داسانی په دعاکې دقبولیت دعا په دې وجه سره شامل کړل شوي ده چې دهر عمل قبلیدل ضروري نه دی لهذادحضرت ابراهیم اواسماعیل علیهما السلام په اتباع کولوسره دې دقبولیت دعاء هم وکړي لکه چې دبیت الله دتعمیرپه وخت کې هغوئ داسې دعاء کړي وه ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم.

(۱۶) له دې وروسته یعنی له دوه رکعته لمونځ اداء کولوڅخه وروسته دې تلبیه ویل شروع کړي ځکه چې مروی ده چې نبی کریم ﷺ له خپل لمانځه څخه وروسته تلبیه ویلې وه اوکه په سورلی له سوریدلوڅخه وروسته یې تلبیه وویله نوهم صحیح ده ځکه چې دواړه قسمه روایات موجوددي ،نوکه ته حج افرادکونکی یې نوپه تلبیه کې به صرف دحج نیت کوي ځکه چې نیت دټولوعباداتولپاره شرط دی ، دمصنف ﷫ عبارت ،تنوی بها الحج ،حال دی په لب کې له مستترضمیرڅخه ای حال کونک ناویابالتلبية الحج.

ف: بایدیادوساتل شي چې احرام دازاراورداء اغوستلوته نه ویل کیږي لکه چې دعوامودغه خیال دی بلکه احرام نیت اوتلبیه یانیت اوهدی (دقربانی هغه څاروی کوم چې په اشهرحج کې په حرم کې دننه دذبح کولولپاره لیږل کیږي) له ځان سره بولوته ویل کیږي .

دتلبیې بیان

(۱۷) له دې ځایه څخه مصنف ﷫ دتلبیې الفاظ درشيي چې دتلبیې الفاظ لبیک اللهم لبیک الخ دي ځکه چې له نبی کریم ﷺ څخه همدامنقول دي ،تلبیه ویل واجب ده که له مذکوره الفاظوڅخه علاوه تسبیح وتهلیل یعنی سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله ووایې اونیت وکړي نومحرم کیږي .

(۱۸) دتلبیې مذکورالفاظ ځرنګه چې باتفاق الرواة له نبی کریم ﷺ څخه مروی ده لهذاپه دوئ کې کمې کول مکروه دي نوپه دې کې دې کمبوت نه کوي البته ددې الفاظوله ویلوڅخه وروسته که دحمدوثناء نورالفاظ ورزیات کړي نودابلاکراهت جائزدي ځکه چې مقصودثناء اودعبودیت اظهاردی لهذااضافه ممنوع نه ده ،همداشان مروی ده چې حضرت ابن عمر ﷺ په خپله تلبیه کې داالفاظ زیات کړي وو ،لبیک وسعدیک والخیرکله فی یدیک والرغباء الیک لبیک لبیک ،البته دتلبیې دمذکوره کلماتوپه منځ کې کومه بله کلمه ویل مکروه ده کمافی الدرالمختار: وزدنډبافیهاای علیهالافی خلالها ولاتنقص منهافانه مکروه تحریما (الدرالمختار علی هامش الشامية: ۲/۱۷۳)

(۱۹) فإذا لبيت ناويا فقد أحرمت فاتق الرفث والفسوق والجدال (۲۰) وقتل الصيد والإشارة إليه والدلالة عليه (۲۱) ولبس القميص والسراويل والعمامة والقلنسوة والقباء (۲۲) والخفين إلا أن لا تجد النعلين فاقطعهما أسفل من الكعبين

ترجمه: نو كله چې ته تلبيه ووايې په نيت كولو سره نو ته محرم شوې نو پرهيز وكړه له بد وخبرو څخه او له گناهو نو څخه او له جنگ كولو څخه، او د شكار له قتل كولو څخه او د شكار طرف ته له اشاري كولو څخه او له شكار ورښودلو څخه او د قميص او پرتوگ او پگړی او توپی او جبې (اغستلو څخه)، او موزو په پښو كولو څخه مگر دا چې ته نه مومندي چپلي نو موزي پري كړه د بجلكو تر كښته پوري.

تشريح: (۱۹) كله چې ته تلبيه ووايې او نيت يا د نيت قائم مقام (يعنى هديي له ځان سره روانه كړي) هم وكړي نو اوس ته محرم شوي، په عبارت كې دا تصريح ده چې محرم په نيت او تلبيه دواړو سره محرم كيږي صرف په نيت سره نه محرم كيږي ترڅو چې تلبيه هم ونه وايې ځكه چې دا عقد ادائيگی ده لهذا په دي وخت كې ذكر او نيت دواړه ضروري دي لكه چې په لمانځه كې د شروع كيدلو لپاره نيت او ذكر دواړه ضروري دي، او له تلبيې سره يې د نيت قيد ځكه اضافه كړ چې په صرف تلبيه ويلو بغير له نيته څوك محرم نه گرځي ځكه چې په عبادت كې شروع بغير له نيت څخه نه كيږي، د امام ابويوسف رحمه الله په نزد بغير له ذكر څخه صرف په نيت سره هم محرم كيږي هغه يې په روژه باندي قياسوي، قول اول راجح دی كما في الهندية: حتى لا يصير محرما بالتلبية بدون نية الاحرام ولا يصير شارعا بمجرد النية مالم يات بالتلبية او مايقوم مقامها من الذكر او سوق الهدى او تقليد البدنة (هنديه: ۱/۲۲۳)

بيا له احرام ترلو څخه وروسته په حاجی له منهياتو يعني رفث، فسوق او جدال وغيره څخه ځان ساتي لقوله تعالى ﴿ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ ﴾ (يعنى له احرام ترلو څخه وروسته نه رفث شته نه فسوق او نه جدال) د باري تعالی دا قول خبر دی د نهي په معنى سره ای لا ترفثوا ولا تفسقوا ولا تجادلوا، مراد دا دی چې اوس دا كارونو له تا سره ورنه دي لهذا مه يې كوه، او له رفث څخه مراد جماع يا له ښځو په موجود والی كې د جماع تذكره ده يا فحش خبري دي، فسوق د خروج عن طاعة الله په معنى سره دی، د لته له ده څخه مراد ټول گناهونه دي همدا د حضرت ابن عمر او ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قول دی او همدا صحيح دی، او له جدال څخه مراد له خپلو ملگرو سره جنگ او جنجال كول دي.

ف: څرنگه چې د حج په باب كې د لمانځه په نسبت وسعت زيات دی لهذا هر داسې ذكر كفايت كوي چې په هغه سره قصد تعظيم وي خواه كه فارسی وي او كه په عربی كه څه هم عربی احسن ده، او د حج په باب كې وسعت په دي وجه دی چې په ده كې د ذكر پر ځای فعل (يعنی تقليد بدنه) هم كفايت كوي يعنی په نيت او تقليد بدنه سره هم محرم گرځي.

(۲۰) قوله وقتل الصيد ای اتق قتل الصيد، يعنى له احرام ترلو څخه وروسته دي نه خپله شكار وژني لقوله تعالى ﴿ لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ ﴾ (يعنى شكار مه وژنئ په داسې حال كې چې تاسې محرم ياست) او نه دي ښكار طرف ته اشاره كوي كه ښكار حاضر وو او نه دي ښكار چاته ورښيي كه ښكار غائب وو ځكه چې په حديث شريف كې د اشارې او دلالت ممانعت هم ثابت دی.

(۲۱) قوله ولبس القميص ای واتق لبس القميص الخ، يعنى له احرام ترلو څخه وروسته دي محرم قميص، پرتوگ، عمامه، توپی او جبه نه په تن كوی او موزي دي نه په پښو كوي ځكه چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه

فرمایي: ﴿ سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم ما یلبس المحرم قال لا یلبس القمیص ولا العمامة ولا البرنس ولا السراویل ولا الخفین إلا أن لا یجد النعلین فلیقطعهما حتی یکونا أسفل من الکعبین ﴾ (یعني له نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې محرم څه شی په تن کړي ؟نبي کریم ﷺ وفرمایل: چې قمیص ،عمامه ،توپی اوشلواراوموزي دي نه په تن کوي مګرداچې چپلان نه وموندي نوموزي دي له کعبینو څخه ترکښته پوري قطع کړي).

ف:اودمذکوره اشیاء له اغستلو څخه په معتادطریقه سره اغوستل مراددي لهذاکه یې له قمیص څخه ازاراوله پرتوګ څخه ردا، جوړه کړه نوبه دي کې څه حرج نشته کمافی الشامیة :والحاصل ان الممنوع عنه لبس المخیط اللبس المعتاد(ردالمحتار:۲/۱۷۷)

(۲۲)قوله والخفین ای اتق المحرم الخفین ،یعني محرم دي موزي نه پښوکوي ،البته که له چاسره چپلې نه وي نودی که موزي له بجلکو څخه کښته پرې کړي اوپښویې کړي نوجائزدی﴿لقوله ﷺ ولا الخفین إلا أن لا یجد النعلین فلیقطعهما حتی یکونا أسفل من الکعبین﴾(یعني محرم دي موزي نه په پښوکوي البته کې یې چپلې ونه موندلې نوموزي دي له کعبینو څخه کښته پرې کړي اوپه پښودي کړي).

ف:اوله کعبین څخه دلته هغه جوړمراددی کوم چې دتسمې دتړلوپرځای په وسط قدم کې واقع دی چیرته چې دګوتو هډوکې سره مجتمع کیږي ،دپښې دواړوطرفوته راوتلي هډوکي مرادنه دي ،دمصنف رحمه الله عبارت ولبس القمیص والسراویل الخ عطف دی په الرفث باندي ای لاتق لبس القمیص الخ.

(۲۳)والثوب المصبوغ بورس او زعفران او عصفر (۲۴)إلا أن یکون غسیلا لا ینفض (۲۵)وستر الرأس والوجه (۲۶)وغسلهما بالخطمی ومس الطیب (۲۷)وحلق رأسه وقص شعره وظفره

ترجمه :او(پرهیزکوه)له داسې جامې څخه کوم چې په ورس یازعفران یاعصفرسره رنګ شوي وي ، مګرداچې پریمنځل شوي وي اوخوشبونه ځنې محسوسیږي ،اودسراومخ له پټولو څخه ،اوددوئ دواړوله پریمنځلو څخه په ګل خطمی سره اوله خوشبوئې لګولو څخه ،اودسرله خریلو څخه ،او دوېښتانواونوکانوله پرې کولو څخه .

تشریح:(۲۳)قوله والثوب المصبوغ الخ ای واتق الثوب المصبوغ ،یعني محرم دي په ورس (ژړرنګ یمني وابنه دي)زعفران (یوقسم نهایت خوشبولرونکی اوژیړرنګی ګل دی)اوپه عصفر(بوژړرنګی بوټی په کوم چې رنګ کیږي)سره رنګ شوي جامې نه په تن کوي ، ﴿ لقوله ﷺ لایلبس المحرم ثوبامسه الزعفران ولاالورس ﴾ (یعني محرم دي داسې جامه نه په تن کوي په کوم چې زعفران یاورس لګیدلی وي)،اوعصفر دخوشبوئې په وجه منوع دی .

(۲۴)البته که په مذکوره ګلانوسره له رنګولو څخه وروسته جامه پریمنځل شوي وه اواوس له جامو څخه خوشبوئې نه راتله نودداسې جامواستعمال جائزدی ځکه چې مانع خوشبووه چې په پریمنځل کیدلوسره پاتې نه شوه .

(۲۵)قوله وستر الراس ای واتق ستر الراس ،یعني محرم دي خپل سراوخپل مخ نه پټوي ولی چې یواعرابې داحرام په حالت کې له اوښ څخه ولویدی اووفات شونونبي کریم ﷺ وفرمایل ﴿لاتخمرواوجهه ولاراسه فانه یبعث یوم القیامة ملبیا ﴾ (یعني تاسې دده مخ اوسرمه وریټوئ ځکه چې دی به دقیامت په ورځ په تلبیه ویلوسره

رااوچت کړای شي)نودنبی کریم ﷺ دمخ اوسرله پټولوڅخه منع کول پردي دلالت کوي چې په مخ نه پټولوکې داحرام اثردی.

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزددنارینه ولپاره مخ پټول جائزدی ﴿لقوله ﷺ إحرام الرجل في رأسه وإحرام المرأة في وجهها ﴾(یعنی دنارینه احرام دده په سرکې ده اودښځې احرام ددې په مخ کې ده)نوځرنګه چې دنارینه په مخ کې احرام نشته په دې وجه دده سرپټول جائزدی ،امام شافعی ته ځواب ویل شوی دی چې اول خوداحدیث په ابن عمر ﷺ موقوف دی مرفوع نه دی لهذاادمرفوع روایت معارض نه شي کیدای ، اوکه دامرفوع تسلیم شي نوبیاداویل کیږي چې په دې حدیث کې بې شکه داذکردی چې دنارینه احرام په سرکې دی مګرپه مخ کې داحرام نفي خونشته ،همدارازکله چې ښځه دشریعت له طرفه ماموره ده چې مخ لڅ وساته حال داچې دښځې لپاره په مخ نه پټولوکې دفتنې خوف هم شته نونارینه خوبه په طریقه اولی سره په مخ نه پټولوماموروي.

(۲۶)قوله وغسلهمابالخطمی ای واتق غسلهمابالخطمی ،یعنی محرم دې سراومخ په ګل خطمی (دایو خوشبو لرونکی عراقی وابنه دی چې دصابون کارکوي)سره له پریمنځلوپرهیزکوي ،اوله خوشبو لګولوڅخه دې پرهیزکوي ځکه چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي ،الحاج الشعث التفل (حاجي دپراګنده ویښتانواوبغیرخوشبووالاده) مراددادی چې خوشبودې نه لګوي اوپراګندګی دې نه لري کوي ،نوپه ګل خطمی کې یوقسم خوشبوهم شته اوداپراګندګی هم لري کوي په دې وجه په ګل خطمی سره دسراومخ پریمنځل دمحرم لپاره ممنوع دي.

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدنکریزي لګول جائزدي ځکه چې نکریزي خوشبوئي نه ده ،مګرامام شافعی رحمه الله ته ځواب ویل شوی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي ﴿ الحناء طیب ﴾ (نکریزي خوشبوئي ده) نوداویل چې نکریزي خوشبونه ده صحیح نه دي صاحب هندیې حناء ته خوشبوویلي دي لکه چې فرمایي :ولیس له ان یختضب بالحناء لانه طیب کذافی الجوهرة النیرة (الهندیة: ۲۴۳/۱)

دخوشبوئي لرونکومشروباتوحکم

ف:نن صبادیرداسې مشروبات ایجادشوي دي کوم چې خوشبوداروي ،همداشان په غذاګانوکې هم داسې شیان استعمالیږي چې خوشبوداروي لکه زعفران ،ګلاب وغیره ،(۱)نوکوم شیان چې وي صرف دخوشبولپاره ،که دوئ په خپل اصل حالت کې بغیرله پخولواوپه خالص طریقه سره استعمال کړل شي نودانا جائزدي اوددې په وجه سره به کفاره واجبیږي که یې ددواء په طوراستعمال کړي اوکه یې دغذاء په طوراستعمال کړي ،(۲)اوکه خالص خوشبودارشی پوخ کړای شي نوهغه دخوشبوداریه حکم کې نه پاته کیږي .(۳)اوکه داسې خالص خوشبودارشی له کوم بل شي سره په مخلوطه طریقه سره وخوړل شي نودغالب اعتباربه کیږي.(۴)اوکه په مشروب کې خالص خوشبودارشی واچول شي نو هغه ولوکه دمقداراواجزاؤپه اعتبارسره لږوي بیاهم په باربارڅښلوسره دم واجبیږي .(۵)اوکوم شی چې په اصل کې

دخوشبولپاره نه وي بلکه دغذاياکوم بل مقصدلپاره وي مکرپه ده کې خوشبوهم وي اودخوشبوا و غذادواړولپاره استعمال شي نوپه داسې شی کې طريق استعمال معتبردی ،نوکه دمالش لپاره استعمال شو نوده حکم دخوشبودارشي دی اوکه دغذايادواء لپاره استعمال شونودخوشبوپه حکم کې نه ده ، تودي تفصيلاتومطابق دآم ،سنتري ،سيب وغيره جوس داحرا م په حالت کې څښل جائزدي اوکه په پکوان (غوړو)کې خوشبودارشی استعمال شوی وو لکه زعفران وغيره اوهغه پاخه کړای شونوپه دي کې هم مضائقه نشته ،اوهمداشان هغه دواياني چې به هغوکې خوشبودارشيان ګډشوي وي دخوشبودارشی په حکم کې نه دي .(جديدفقهی مسائل (۲۴۲/۱)

ف:په عام ډول سره په حجراسودباندي په کثرت سره عطرلګول کيږ ياوداضروري هم ده ځکه چې دمچې اخيستونکو دناړو په وجه سره ډيره بدبويي پيداکيږي ،اوله حجراسودڅخه دمچې اخيستلويااستلام کولوپه صورت کې په لاسونو اوشوندو باندي دخوشبوئي لګيدل يقني ده لهذداحرام په حالت کې په داسې صورت کې دحجراسودله مچې څخه اجتناب کول په کاردي ځکه چې دمستحب کارلپاره دممنوع ارتکاب کول صحيح نه دی.(جديدفقهی مسائل:۲۴۶/۱)

(۲۷)قوله وحلق راسه ای واتق حلق راسه ،يعنی محرم دی دسراوبدن دويښتانوله خريلوڅخه پرهيزکوي ځکه چې په دي کي پراګندګی والی اوخيري وغيره زائليدل متحقق کيږي کوم چې دمذکوره بالاحديث په وجه سره ممنوع دي ،همداشان له نوکانوپريکولوڅخه دي هم پرهيزکوي ځکه چې په دي کې هم پراګندګی اوخيري زائل کيدل متحقق کيږي کوم چې ممنوع دي .

ف:دويښتانوپري کول په هرقسم ممنوع دي خواه که يې خپله پري کوي اوياکوم بل چاته په پري کولوقدرت ورکړي خواکه په بليډسره وي ياپه غابنونوسره وي ياپه چونه وغيره سره وي کمافی الشامية :والمرادازالة شعره کيفماکان حلقاوقصاونتفاوتنوراواحراقامن ای مکان کان من الراس والبدن مباشرةاوتمکينا(ردالمحتار:۱۷۷/۲)

(۲۸)لَاالْاِغْتِسَالَ وَدُخُولَ الْحَمَّامِ وَالْاِسْتِظْلَالَ بِالْبَيْتِ وَالْمَحْمَلِ (۲۹)وَشَدَّ الْهِمْيَانِ فِي وَسَطِهِ (۳۰)وَاَكْثِرِ التَّلْبِيَةَ مَتٰى صَلَّيْتَ اَوْعَلَوْتَ شَرَفًا اَوْهَبَطْتَ وَادِيًا اَوْلَقِيْتَ رَكْبًا وَبِالْاَسْحَارِ رَافِعًا صَوْتَكَ بِهَا

ترجمه:نه له غسل څخه او حمام ته له داخليدلوڅخه اوله سايه حاصلولوڅخه په کوراوکجاوي سره ،اوله هميانی تړلوڅخه په ملاباندي ،اوپه کثرت سره تلبيه وايه کله چې لمونځ اداء کړي اولوړ خيژي يا کوزيږې په کومه شيله ياله سوروسره يوځای شې اودسهارپه وخت کې په داسې حال کې چې ته به لوړوي آوازاخپل په تلبيه باندي .

تشريح:(۲۸)قوله لاالاغتسال ای لاتتق الاغتسال ،يعنی دمحرم لپاره له غسل څخه دځان ساتلوحکم نشته لهذاپه غسل کولوکې څه حرج نشته ځکه چې پيغمبر ﷺ داحرام په حالت کې غسل کړی وو ،همدارازله حضرت عمر رضی الله عنه څخه داحرام په حالت کې غسل کول ثابت دی ،اودغسل لپاره حمل ته له داخليدلوڅخه دځان ساتنې حکم نشته لهذاحمام ته داخليدی شې ځکه چې نبی کريم ﷺ په مقام جحفه کې حمام ته داخل شوی وو ،همدارازپه کوم مکان ياکجاوه سره دسوري حاصلوڅخه دځان ساتلوحکم نشته لهذاپه دي سره سايه حاصلولی شې ځکه چې داشيان ددبدن نه مس کوي نوداد مکان دبام سره مشابه شول .

(۲۹)قوله وشد الهميان اي ولا تعلق شد الهميان ،يعنى له هميانى تړلو څخه هم دځان ساتنې حکم نشته ځکه چې دانه ګنډل شوي جامه ده اونه دګنډل شوي جامې په معنى ده ،هميانى بکسر الهاء هغه خلته يا کڅوړي ته ويل کيږي چې په هغې روپې اچول کيږي اوتر ملا تړل کيږي .

ف:دامام مالک رحمه الله په نزد که په هميانې کې دبل چا خرڅ وو نوتړل يې مکروه دي ځکه چې دده ضرورت نشته ،هوکه په هغې کې دخپله خرڅه ايښې وه نو دضرورت په وجه سره مکروه نه ده ،احناف وايي ،چې هميانى نه ګنډل شوي جامه ده اونه دګنډل شوي جامې په معنى ده لهذا ددي په تړلو کې څه حرج نشته خواه که په هغې کې خپله خرڅه وي اودبل خرڅه وي .

(۳۰)يعنى دمحرم لپاره وروسته له لمانځه که فرض وي اوکه نفل ،په لوړه دختلو پروخت ،په کومه شيله کې دکښته کيدلو پروخت ،دسورسره دملاقات پروخت اودسهار پروخت په کثرت سره تلبيه ويل مستحب دي ځکه چې دنبي کريم ﷺ اصحابو کرامو ﷺ به په دي وختونو کې تلبيه ويله ،همدا راز تلبيه په احرام کې دتکبيرات لمانځه په شان ده لهذا له يوه حال څخه دبل حال طرف ته دانتقال پروخت به ويل کيږي ،اوتلبيه دي په لوړ اواز سره وايي ﴿ لقوله ﷺ خير الحج العج والثج ﴾ ،له العج څخه په لوړ اواز سره تلبيه ويل دي ،اوله الثج څخه مراد اراقة الدم دی .

ف:اودمصنف رحمه الله په قول لقيت رکبا کې دحجاج له جماعت سره يوځاى کيدل مراد دي که څه هم هغوئ په پښو روان وي، دمصنف رحمه الله په عبارت ،اکثر التلبيه، کې، اکثر،له باب افعال څخه دامر صيغه ده او ،رافعا صوتک ،حال دی د ،اکثر،له ضمير مستتر څخه ،اى حال کونک رافعا صوتک بالتلبية.

دطواف قدوم بيان

(۳۱)وَابدَأ بِالمَسجِدِ بعد دُخُولِ مَكَّةَ وَكَبِّرْ وَهَلِّلْ تِلقَاءَ البَيتِ (۳۲)ثُمَّ استَقبِلِ الحَجَرَ الأَسوَدَ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُستَلِمًا بِلَا إِيذَاءٍ (۳۳)وَطُف مُضطَبِعًا وَرَاءَ الحَطِيمِ آخِذًا عَن يَمِينِكَ مِمَّا يَلِي البَابَ سَبعَةَ أَشوَاطٍ (۳۴)تَرمُلُ فِي الثَّلَاثَةِ الأُوَلِ فَقَط (۳۵)واستلم الحجر كلما مررت به ان استطعت واختم الطواف به (۳۶)وبركعتين بالمقام او حيث تيسر من المسجد لِلقُدُومِ (۳۷)وهو سُنَّةٌ لِغَيرِ المَكِّيِّ

ترجمه:اوابتداء وکړه په مسجد حرام په مکه مکرمه کې په داخليدو سره اوالله اکبر وايه اولا اله الا الله وايه دبيت الله په ليدو سره ،بيا دحجر اسود مخ ته ورسه په الله اکبر،لا اله الا الله ويلو سره حجر اسود مچ کړه ځانته له تکليف رسولو څخه بغير، اوطواف وکړه په داسې حال کې اضطباع دي کړي وي دحطيم له شا څخه په شروع کولو له خپل راسته طرف څخه کوم چې ددروازي لور ته ده اووه شوطه ،رمل کوه صرف په اول دريو چکرونو کې ،اومچه وه حجر اسود کله چې هم ته دده سره تيريږي که دي استطاعت وو اوختم کړه طواف په استلام حجر سره ،اوپه دوه رکعته لمانځه سره په مقام ابراهيم کې يا چيرته چې ځاى وموندي په مسجد کې دقدوم لپاره ،اوطواف قدوم سنت دی دغير مکي لپاره .

تشريح:(۳۱)يعنى کله چې محرم مکې مکرمې ته داخل شي نودخپل سامان په کوم محفوظ ځاى کې له اېښودلو څخه وروسته ترټولو له مخه دي په مسجد حرام سره شروع وکړي ، ځکه چې مقصود دبيت الله زيارت دی اوبيت الله په مسجد حرام کې دی ،اوکله چې بيت ته مخامخ شي اوپه بيت الله يې نظر ولګيږي

نوالله اكبردي ووايي دكوم چې مطلب دادی چې له هرلوی شي څخه لوی دی ،په دي كې اشاره ده چې دكعبې عزت اوحرمت دالله تعالى له طرفه وركړل شوی دی ددي ذاتی نه دی ،اولااله الاالله دي ووايي ترڅوداوهم نه وي چې مقصودبالعبادة كعبة الله ده .

ف:اودعاء دي وكړي ځكه چې دااجابت (قبوليت)دعاء ځای دی مروی ده چې نبی كريم ﷺ دادعاء ويله ، اللهم زد بيتك هذا تشريفا ... الخ ،صاحب فتح القديروايي چې ترټولواهمه دعاء بلاحسابه دجنت طلب كول دي اوترټولواهم ذكرپه نبی كريم ﷺ درودويل دي كمافي الشامية :ولم يذكرفي المتون الدعاء عندمشاهدة البيت وهی غفلة عمالايغفل عنه فانه عندها مستجاب ....وفي الفتح ومن اهم الادعية طلب الجنة بلاحساب والصلوة على النبي ﷺ هنامن اهم الاذكار(ردالمحتار:۲/۱۶۹)

(۳۲)بيادي دحجراسوداستقبال وكړي اوكوم مسلمان ته له تكليف وركولوڅخه بغيردي دحجراسود استقبال وكړي ﴿لماروی ان النبی ﷺ دخل المسجدفابتدأبالحجرفاستقبله وكبروهلل﴾ (يعنى مروی ده چې نبی كريم ﷺ مسجدحرام ته داخل شونوپه حجراسودسره يې شروع وفرمايله نودده لورته متوجه شو الله اكبريې ووايه اولااله الاالله يې وويله).

ف:داقيديې ځكه ولګاوو چې مسلمان ته له تكلف وركولوبغيردي استلام وكړي چې نبی كريم ﷺ حضرت عمر ﷺ ته وفرمايل چې ته قوی شخص يې په حجراسودله خلكوسره داسې مزاحمت مه كوه چې ضعيف خلكوته تكليف ورسوي بلكه كه دي حجراسودخالي وموندنواستلام يې وكړه كه نه نو استقبال يې وكړه اوتكبيراوتهليل ووايه ،همدارازاستلام سنت دی اومسلمان ته له تكليف وركولوڅخه ځان ساتل واجب دی لهذادحصول سنت يعنى استلام الحجرلپاره به واجب (يعنى له ايذاء مسلم څخه ځان ساتل)نه پريښودل كيږي.

ف:استلام اوتقبيل دي په دي ډول سره وكړي چې دواړه لاسونه دي په حجراسود په ايښودلوسره دي حجراسودپه دي ډول سره مچ كړي چې له خولې څخه آوازونه باسي كه يې حجراسودنه شوای مچولی نوكه ممكن وو نوپه لاس كې دي لاټي وغيره كوم بل شي ونيسي هغه دي له حجراسودسره مس كړي بيا دي هغه شي مچ كړي اوكه داهم ممكن نه وو نوبيادي دواړه لاسونه ترغوږونوپوري اوچت كړي اواشاره دي وكړي اولاسونه دي مچ كړي،دمصنف رحمه الله عبارت مكبرامهللامسلما،حال دی داستقبل له ضمير مستترڅخه ،ای حال كونك مكبرامهللامستلما.

(۳۳)محرم دي اوس طواف قدوم په دي ډول شروع كړي چې له استلام حجروروسته دي اول اضطباع وكړي (يعنى خپل څادردي له ښي بغل څخه وباسي په كيڼه اوږه دي واړوي په دي ډول به ښي اوږه لڅه پاته شي اوكيڼه اوږه به دڅادرپه دواړوطرفونوسره مستوره شي)ځكه چې مروی ده چې نبی كريم ﷺ داضطباع په حالت كې طواف كړی وو ،بيادله خپل ښی طرفه نه چرته چې دبيت الله دروازه ده دحطيم (له بيت الله سره متصل دشپږګزه اويوي لويښتي په اندازه كومه چبوتره چې معلومه ده هغې ته حطيم ويل كيږي)له شاڅخه دبيت الله اوه شوطه (شوط وايي په بيت الله يوځل له حجراسودڅخه بيرته ترحجراسودپوري چكرلګولوته)طواف وكړي ولې چې له حضرت جابر ﷺ څخه مروی ده ،﴿انه ﷺ لما قدم مكة بدأبالحجرفاستلمه ثم

مَشَى عَلَى يَمِينِهِ فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا ﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ چې کله مکې مکرمې ته راغی نوله حجراسود څخه په شروع کولوېې دهغه استلام وکړیاخپل ښی طرف ته ولاړی په دري شوطه کې يې رمل وکړاوپه څلوروشوطونوکې په وقارسره ولاړی)اوله حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه مروی ده چې من طاف بالبيت فليطف من وراء الحجر (څوک چې دبیت الله طواف کوي هغه دي دحطیم له شاڅخه طواف وکړي).

ف:بایدیادوساتل شې چې اضطباع صرف په طواف کې سنت ده له طواف څخه وړاندي یاله طواف څخه وروسته سنت نه ده کمافی الشامية:ثم قال وهو موهم ان الاضطباع يستحب من اول احوال الاحرام وعليه العوام وليس كذالك فان محله المسنون قبيل طواف الى انتهائه لاغير.(ردالمحتار:۲/۱۷۱)

ف:په طواف کولوکې حطیم هم په طواف کې رانیول واجب دي لهذاکه چادبیت الله اوحطیم په منځ کې طواف وکړنو احتیاطابه دامعتبرنه وي کمافی شرح التنویر:(وراء الحطيم)وجوبالان منه ستة اذرع من البيت فلوطاف من الفرجة لم يجز كاستقباله احتياطا(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۲/۱۸۱)

ف:حطیم دماتولوپه معنی دی نوځرنګه چې مشرکینودبیت الله دجوړولوپروخت دخرڅ دکمی په وجه سره دبیت الله څه حصه له بیت الله څخه جلاکړي وه په دي وجه دي حصې ته حطیم ویل کیږي ،حطیم ته حجر(بکسرالحاء)هم ویل کیږي حجر دبندولوپه معنی دی نوځرنګه چې داحصه دبیت الله له تعمیرڅخه بنده کړل شوي وه په دي وجه سره دي ته حطیم ویل کیږي.

(۳۴)یعنی دطواف په اولنیودریوشوطونوکې دي رمل (داوږوپه شورلوسره لږتیزتللوته رمل ویل کیږي)وکړي اوپه باقی څلوروشوطونوکې دي په خپل هیئت سره په وقاررفتارکوي لماروينامن حديث جابر رضي الله عنه ،اوهرهغه طواف چې له هغه څخه وروسته سعی بین الصفاوالمروة وي په هغه کې رمل هم شته اوله کوم څخه وروسته چې سعی نه وي په هغه کې رمل هم نشته .

ف:اودرمل سبب داده چې نبی کریم ﷺ دعمرة القضاء په موقع له ځینومشرکینوڅخه داواوریدل چې مسلمانان دمدینې ګرمې کمزوري کړي دي ،نونبی کریم ﷺ خپل دواړه بازوګان شکاره کړل رمل يې وکړاوخپلوصحابه کرامو رضي الله عنهم ته يې هم درمل کولوحکم وکړترڅودمسلمانانودبهادري مشاهده مشرکین وکړي بیاداسبب که څه هم زائل شومګردرمل حکم باقی دی ،دعلامه شامی رحمه الله تحقیق دادی چې که دطواف شروع کولوڅخه وړاندي ګڼه ګوڼه (رش) وو نوودي دریږي کله چې رش ختم شې نوطواف دي مع رمل شروع کړي اوکه دطواف په منځ کې رش جوړشونوبیادي نه دریږي بلکه روان دي اوسې ترڅوچې دمل موقع په لاس ورشي ،قال:وان كانت الزحمة قبل الشروع وقف لان المبادرة الى الطواف مستحبة فيتركها للسنة المؤكدة وان حصلت في الاثناء فلايقف لئلاتفوت الموالات بل يمشي حتى يجد الرمل وهو الاظهر (ردالمحتار:۲/۱۸۳) .

ف:بیت الله شریف ته قریب طواف مع رمل کول افضل دی لیکن که یې بیت الله ته نژدې درش په وجه له رمل سره طواف نه شوکولی نوبیاله بیت الله څخه لیري طواف مع رمل کول افضل دی تربیت الله ته قریب بلارمل طواف کولوڅخه.

(۳۵)اودهرشوط په اختتام کې چې په حجراسودتیریږي نودحجراسوداستلام دي کوي څکه چې دطواف شوطونه دلمانځه درکعتونوپه څیردي نولکه ځرنګه چې هررکعت په تکبیرسره شروع کیږي

همدا شان به هر شوط په استلام سره شروع كوي ،په دي شرط چې نوروته له تكليف رسولو څخه بغير د استلام استطاعت وي لامر،او خپل طواف دي په استلام حجرسره ختم كړي لكه څرنګه چې په استلام سره شروع كړي وو ،او استلام حجر سنت دی .

(۳۶)قوله وبر كعتين في المقام اى واختم الطواف بر كعتين في مقام ابراهيم عليه السلام،يعنی طواف دي په مقام ابراهيم (هغه ډبره په كومه چې په دريدلو سره حضرت ابراهيم عليه السلام دبيت الله تعمير كاوو په كومه كې چې دحضرت ابراهيم عليه السلام دقدم مبارک نشانونه دي)كې په دوه ركعته لمونځ اداء كولو سره ختم كړي اوكه په مقام ابراهيم كې ځاي ونه موندنو په مسجد كې حرم كې چې چيرته ځاى وموندي دادوه ركعته لمونځ دي اداء كړي ځكه چې مروى ده چې نبى كريم ﷺ چې كله له طواف څخه فارغ شونو مقام ابراهيم ته راغى اودا آيت مبارک يې تلاوت كړ ﴿ وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى ﴾ (يعنى له مقام ابراهيم څخه مصلى جوړه كړئ)اودوه ركعته لمونځ يې اداء كړ،نونبى كريم ﷺ دمذكوره ايت په تلاوت كولو سره تنبيه وفرمايله چې دادوه ركعته امتثال لامر الله تعالى دي او امر دوجوب لپاره وي لهذا له طواف څخه وروسته دادوه ركعته واجب دي ،البته دادوه ركعته دي په مكروه وخت كې نه اداء كوي .

ف:دامام شافعى رحمه الله په نزد دادوه ركعته سنت دي ځكه چې ددي دوجوب څه دليل نشته ،مګر امام شافعى رحمه الله ته ځواب ويل شوى دى چې دنبى كريم ﷺ په مذكوره بالا عمل سره ددي دووركعتونو وجوب ثابتيږي همدا راز قولي حديث هم شته ، ﴿قال ﷺ وليصل الطائف لكل اسبوع ركعتين﴾ والامر للوجوب (كذافي الهداية: ١/٢٢٣)

(۳۷)قوله للقدوم ،متعلق دى دمصنف رحمه الله په قول طف پسې ،اى طف مضطبعا مسعة اشواط لاجل طواف القدوم،پورته ذكر شوى تفصيل چې دكوم طواف دپاره ذكر شو هغه ته طواف قدوم ويل كيږي دا طواف دآفاقى (يعنى دمكې مكرمې له باهر څخه راغلى كس)لپاره سنت دي واجب نه دی ،په اهل باندى طواف قدوم نشته ځكه چې ددوئ په حق كې له قدوم (له باهر څخه راتلل)معدوم دي نو اهل مكه د طواف قدوم په حق كې داسې دي لكه په مسجد كې حاضر شخص دتحية المسجد په حق كې .

ف:دامام مالک او امام احمد رحمهما الله تعالى په نزد طواف قدوم دافاقى لپاره واجب دى ﴿لقوله ﷺ من اتى البيت فليحيه بالطواف﴾ (يعنى كوم كس چې بيت الله ته راشي نو هغه دي په طواف سره ددي تحيه او اكرام وكړي)،فليحيه ،دامر صيغه ده او امر وجوب فائده كوي لهذا طواف قدوم واجب دى ،مګر دوئ ته ځواب وركړل شوى دى چې په حديث شريف كې دتحيه ذكر دى او تحيه د اكرام نوم دى دكوم چې ابتداء على سبيل التبرع وي لهذا له دي څخه وجوب نه ثابتيږي .

(۳۸)ثُمَّ اخرُجْ إِلَى الصَّفَا وَقُمْ عَلَيْهِ مُسْتَقْبِلَ الْبَيْتِ مُهَلِّلًا مُكَبِّرًا مُصَلِّيًا عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم دَاعِيًا رَبَّكَ بِحَاجَتِكَ (۳۹)ثُمَّ اهْبِطْ نَحْوَ الْمَرْوَةِ (۴۰)سَاعِيًا بَيْنَ الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ وَافْعَلْ عَلَيْهَا فِعْلَكَ عَلَى الصَّفَا (۴۱)وَطُفْ بَيْنَهُمَا سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ (۴۲)تَبْدَأُ بِالصَّفَا وَتَخْتِمُ بِالْمَرْوَةِ (۴۳)ثُمَّ أَقِمْ بِمَكَّةَ حَرَامًا وَطُفْ بِالْبَيْتِ كُلَّمَا بَدَا لَكَ

ترجمه :بيا ووځه دصفا طرف ته او ودريږه پر صفا باندي دقبلې لور ته مخ كړه په تكبير او تهليل او پر نبى كريم ﷺ په درود ويلو سره او له خپل رب څخه په خپل حاجت غوښتلو سره ،بيا راكښته شه دمروه لورته ،په منډه سره په تللو دميلين اخضرين په منځ كې اوپه مروه هم هغه وكړه څه چې دي په صفا كړي وو ، اوطواف وكړه

دووئ ترمنځ اوه شوطه ،شروع كوه په صفااو ختموه يې په مروه باندي ،بيا پاتـه شـه پـه مكه مكرمه كې داحرام په حالت كې اوطواف كوه پربيت الله كله چې دي هم زړه وغواړي .

تشريح:(۳۸)له طواف قدوم څخه له فراغته وروسته دي په باب الصفا ووځي اوپرصفادي دومره وخيږي چې بيت الله ورښكاره شي ځكه چې پرصفاله ختلو څخه مقصوداستقبال بيت الله دى نودبيت الله طرف دي متوجه شي تكبير ،تهليل اودرودشريف دي ووايي ،ځكه چې دقبوليت دعاء دپاره له دعاء څخه وړاندي ثناء اودرودشريف ويل كيږي اوبيادي دخپلوحاجتونودعاء وغواړي ځكه چې پرصفاله نبى كريم ﷺ څخه دعاءكول مروى ده .

ف: دمصنف رحمه الله عبارت مستقبلا بالبيت مكبرا مهللا مصليا على النبى ﷺ داعيا الخ ،احوال متداخله ياأحوال مترادفه دي دقم له ضمير مستتر څخه ،اى حال كونك مكبرا مهللا الخ.

(۳۹)بيادي له صفاڅخه دمروه لورته راكښته شي په خپل هيئت اووقارسره دي په پښوځي ،په پښوتلل واجب دي كه څوك بلاعذره په سورلى باندي سور شودهغه پرذمه دم لازميږي.

(۴۰)قوله ساعيا بين الميلين الاخضرين اى حال كونك ساعيا وجريا بين الميلين الاخضرين ،يعنى كله چې بطن وادى ته ورسيږي نودميلين اخضرينوپه منځ كې دمنډه واخلي ځكه چې له نبى كريم ﷺ څخه دميلين اخضرين په منځ كې سعى مروى ده ،په مروه په ختلوسره دي دصفاپه شان دلته هم تكبير ،تهليل اودرودشريف ووايي اودخپلوحاجاتولپاره دي دعاء واغواړي ځكه چې دجابر رضي الله عنه په حديث كې راغلي دي حتى اتى المروة ففعل على المروة كما فعل على الصفا(ترڅوچې نبى كريم ﷺ راغى مروه ته اودلته هم نبى كريم ﷺ همداشان وكړولكه څرنګه چې يې په صفاكړي وو)

ف: په اصل كې دمنډي اخيستلومحل بطن وادى ده اوس څرنګه چې وادى نشته بلكه صرف دعلامت په طوردوه ډبري دمسجدحرام دشاپه ديوال تراشلې دي هغوته ميلين اخضرين ويل كيږي اوس دي دوئ په منځ كې منډه وهي (نن صباويل كيږي چې دمنډي اخيستلودمقام په ابتداء اوانتهاء كې دعلامت په طوردوه بتيانې لګولى دي).له ميلين اخضرين څخه زيات دمنډي محل نه دى لهذاپه وقارسره دي ځي ترڅوچې په مروه وخيږي.

(۴۱)يعنى دصفااومروه په منځ كې دي اوه شوطه طواف (مرادسعى ده)وكړي .داحنافوپه نزد دصفااومروه په منځ كې سعى كول واجب دي لقوله تعالى ﴿فمن حج البيت او اعتمر فلاجناح عليه ان يطوف بهما ﴾ (يعنى څوك چې حج ياعمره وكړي پرهغه هيڅ ګناه نشته چې هغه دصفااومروه طواف وكړي)وجه استدلال داده چې لفظ جناح ،داباحت لپاره استعماليږي كوم چې دركنيت اووجوب دواړوپه نفى باندي دلالت كوي ليكن دنفى ايجاب په سلسله كې موږ دظاهرايت څخه په دي وجه عدول وكړ ځكه چې په حديث شريف كې دي ﴿ان الله كتب عليكم السعى فاسعوا ﴾ (الله تعالى په تاسې سعى كول ليكلې دي نوتاسې سعى كوئ)اوداحديث خبرواحد دى له كوم څخه چې وجوب ثابتيږي ركنيت نه ثابتيږي .

ف: له صفاڅخه چې ولاړشي اوپه مروه وخيژي دايوشوط دى بيا له مروه څخه ولاړشي اوپه صفاوخيژي دادوهم شوط دى په همدي شان دي اوه شوطه پوره کړي ،امام طحاوى رحمه الله فرمايي چې له صفاڅخه تلل اوپه مروه ختل اوله مروه څخه تلل اوپه صفاختل دايوشوط دى ،مګردامام طحاوى رحمه الله داقول صحيح نه دى ځکه چې داخودوه شوطه دي يوشوط نه دى اومروى ده چې نبى کريم ﷺ اوه شوطه کړي وو حال اداچې دامام طحاوى دقول مطابق څوارلس شوطه کيږي .

(۴۲)سعى دي له صفاڅخه شروع کوي اوپه مروه دي ختموي ﴿ لقوله ﷺ ابدؤابمابدا الله تعالى به ﴾ (يعنى دنبى کريم ﷺ ارشاددى چې تاسي سعى له هغه څخه شروع کوئ په کوم چې الله تعالى شروع کړي فرمايلي ده)دقران کريم ددي ايت طرف ته اشاره ده ﴿ اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَائِرِ اللهِ ﴾ چې په دي ايت کي الله تعالى دصفاذکراول کړى دى لهذاسعي کونکى دي عملاسعى هم له صفاڅخه کوي ،خپله نبى کريم هم عملاسعى له صفاڅخه شروع فرمايلي وه .

(۴۳)يعنى دصفااومروه له سعى څخه چې فارغ شي نوکه دحج ترورځوپوري وخت وو نوپه مکه مکرمه کې دى احرام په حالت کې تراتم دذى الحجه پوري مقيم اوسي ځکه چې داشخص محرم بالحج دى نوترڅوچې دحج افعال مکمل نه کړى نه حلاليږي اوکله چې يې هم زړه وغواړي دبيت الله طواف دي کوي ﴿ لقوله ﷺ الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ صَلَاةٌ ﴾ (يعنى دبيت الله طواف کول صلوة دى)اولمونځ يوه نيکي وضع کړل شوي ده کوم وخت چې يې هم زړه وغواړي هغه دي حاصله کړي فکذاالطواف .

ف:داطوافونه دافاقى لپاره له نفل لمانځه څخه افضل دي البته له دي طوافونوڅخه وروسته دي دصفااومروه په منځ کې سعى نه کوي ځکه چې دصفااومروه ترمنځ سعى کول يوځل مشروع دي اونفلي سعى مشروع نه ده ،همدارازپه دى طوافونوکې دي رمل هم نه کوي ځکه چې رمل هم صرف يوځل په هغه طواف کې مشروع ده چې له هغه څخه وروسته سعى وي .(کذافى الهداية: ۱/۲۲۳)

(۴۴)ثُمَّ اَخْطُبُ قَبْلَ يَوْمِ التَّرْوِيَةِ بِيَوْمٍ وَعَلِّمْ فِيهَا الْمَنَاسِكَ (۴۵)ثُمَّ رُحْ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ اِلَى مِنًى ثُمَّ اِلَى عَرَفَاتٍ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ يَوْمَ عَرَفَةَ (۴۶)ثُمَّ اَخْطُبُ (۴۷)ثُمَّ صَلِّ بَعْدَ الزَّوَالِ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ بِاَذَانٍ وَاِقَامَتَيْنِ بِشَرْطِ الْاِمَامِ وَالْاِحْرَامِ

ترجمه :بياخطبه ووايه له اتم تاريخ څخه يوه ورځ وړاندي اووروشيه په هغې کې دحج احکام،بياولاړشه په اتم تاريخ دمنى طرف ته بيادعرفات طرف ته دفجرله لمانځه څخه وروسته ،دعرفات په ورځ (په نهم تاريخ)بياخطبه ولوله ،بيالمونځ اداء کړه له زوال څخه وروسته دظهراوعصرپه يوه اذان اودوو اقامتونوسره په دي شرط چې امام به وي اواحرام به وي .

تشريح :(۴۴)ديوم الترويه (اتم ذى الحجه)څخه يوه ورځ وړاندي يعنى داوم په ورځ دي له زوال څخه وروسته امام خطبه ولولي په دي کې دي خلکوته دمنى (په حل کې له مکي مکرمي څخه په يوه فرسخ ديوي قريي نوم دى)اوعرفات (له مکي مکرمي څخه په دري ياڅلورفرسخه په حل کې ديوه غره نوم دى)ته دتللو،په عرفات کې دلمانځه اداء کولو،په عرفات ددريدلواوله عرفات څخه دکښته کيدلو وغيره بيان وکړي ځکه چې نبى کريم ﷺ په اوم ذوالحجه خطبه ويلي وه اوحضرت ابوبکر رضي الله عنه هم په اوم ذوالحجه

خطبه ويلې وه ولې چې له دې خطبې څخه مقصود د مناسکو تعليم دی اوله اوم تاريخ څخه وروسته ورځ خوپه افعال حج د مشغوليدلو ورځ ده لهذا داوم تاريخ خطبه زياته مفيده او مؤثره وي .

ف:داخطبه دې له زوال او د ماپښين له لمانځه څخه وروسته ووايې اوکه يې له زوال څخه وړاندې ولوستله نو مکروه ده کمافي شرح التنوير:(خطب الامام سابع ذی الحجة بعدالزوال و)بعد(صلوة الظهر)وکره قبله (الدرالمختار على هامش ردالمحتار:۲/۱۸۷)

ف:په حج کې درې خطبې مسنون دي ،په اوم تاريخ په مکه مکرمه کې ،په نهم تاريخ په عرفات کې له جمع بين الصلوتين څخه وړاندې ،په يولسم تاريخ په منی کې ،دهر دو خطبو ترمنځ ديوي ورځې فاصله وي اودعرفات له خطبې څخه ماسوا په نوروور ځوکې صرف يوه خطبه وي په منځ به جلسه نه کړي ماسوا دعرفات له خطبې څخه باقي دوه خطبې دماپښين له لمانځه څخه وروسته دي کمافي الشامية:(قوله اولى خطب الحج الثلاث)ثانيها بعرفة قبل الجمع بين الصلوتين ثالثها بمنى فى اليوم الحادى عشر فيفصل بين كل خطبة بيوم و كلها خطبة واحدة بلاجلسة فى وسطها الاخطبة يوم عرفة وكلها بعدما صلى الظهر الابعرفة وكلها سنة(ردالمحتار:۲/۱۸۷)

(۴۵)يعنى داتم ذوالحجه دفجرلمونځ دې په مکه کې اداءکړي بيا دې دمنی طرف ته ووځي ،له طلوع لمروروسته وتل مستحب دي ځکه چې ثابت ده چې نبی کريم ﷺ له طلوع شمس وروسته دمنی طرف ته وتلی وو ،په منی کې دې پاته شي ترڅو چې دنهم ذی الحجه دفجرلمونځ په منی کې اداء کړي په منی کې شپه تيرول مستحب ده لهذا که څوک په مکه مکرمه کې پاته شي دعرفات په سهارله مکې مکرمې څخه سيده دعرفات لورته ولاړشي وقوف منی ونه کړی نوهم جائزده ولکنه اساء لترک السنة ،بيا دې دفجرله لمانځه څخه وروسته دعرفات طرف ته ولاړشي افضل هم دادی ،که څوک له طلوع فجرڅخه وړاندې ولاړ نوهم جائزدی .

ف:ترويه ،له ،رويت فی الامر ،بمعنى فکرت فيه څخه ده ،مروی ده چې حضرت ابراهيم عليه السلام داتم ذی الحجه په شپه خوب وليدی چې کوم ويونکی وايې چې الله تعالی تاته دخپل زوی دذبح کولوحکم فرمايې کله چې سهارشونوده په دې کې ترمابنامه پورې فکرکاووچې داخوب دالله تعالی له طرفه ده اوکه دشيطان له طرفه ده ،په دې وجه دې ورځې ته يوم التروية (په معنی دفکرورځ)ويل کيږي .په دوهمه شپه يې بياهمداسې خوب وليدی نوپوه شوچې داخوب دالله تعالی له طرفه دی ځکه نودې ورځې ته يوم عرفات (دپيژندنې ورځ)ويل کيږي ،بيايې په دريمه ورځ خوب وليدی چې دی خپل زوی ذبح کوي په دې وجه دې ورځې ته يوم النحر(دذبح ورځ)ويل کيږي.

ف:علامه شامی ؒ فرمايې چې په دې زمانه کې ديرې په اتم تاريخ حدودعرفات ته ځي داغلط دی له سنت څخه خلاف دی اودې په وجه سره ډيرسنتونه له دوئ څخه پاته کيږي مثلاً په منی کې لمونځ کول ،په منی کې شپه تيرول ،وغيره فرمايې :واماما يفعله الناس فى هذه الازمان من دخولهم ارض عرفات فى اليوم الثامن فخطاً مخالف للسنة ويفوتهم بسببه سنن كثيرة منها الصلوة بمنى والمبيت بهاالخ والخطبة والصلوة قبل دخول عرفات (ردالمحتار:۲/۱۸۷)

(۴۶)قوله ثم اخطب ای ثم اخطب خطبتين بعرفة بعدالزوال والاذان قبل الصلوة ،يعنى دعرفات په ورځ دې امام له زوال اواذان ظهرڅخه وروسته له لمانځه څخه وړاندې دوه خطبې ولولې په کوموکې چې به وقوف عرفات

،وقوف مزدلفه اوله دوئ دواړو څخه واپسې ،رمی جمرات ،قرباني ،سرخريل ،طواف زيارت وغيره احکام ورونبايي ځکه چې همدا تفصيل له نبی کريم ﷺ څخه مروی دی.

ف:دامام مالک رحمه الله په نزدبه خطبه له لمانځه څخه وروسته وايي ځکه چې دادوعظ اونصيحت خطبه ده نوداداختر له خطبې سره د مشابهت په وجه له لمانځه وروسته ويل کيږي ،احنافو امام مالک ته ځواب ورکړی دی چې له دي خطبې څخه مقصود دمناسکو تعليم دی اوپه مناسکو کې جمع بين الصلوتين هم ده لهذا خطبه بايدله لمانځه څخه وړاندي وي تر څو په دي کې د جمع بين الصلوتين طريقه هم وروښايي.

(۴۷)بيادي له خطبې څخه وروسته امام دظهراوعصرلمونځ يوځای په يوه اذان اودوو اقامتونوسره ورکړي ځکه چې نبیّ کريم ﷺ دواړه لمونځونه په يوه اذان اودواقامتونوسره اداء کړي وو ،په دي شرط چې امام يادهغه نائب به موجود وي اولمونځ کونکی به په احرام کې وي.

ف:دجمع بين الصلوتيَن لپاره دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپنځه شرطونه دي./نمبر۱.دماپښين وخت به وي ./نمبر۲.دعرفات ميدان به وي./نمبر۳.احرام به وي.نمبر۴.بادشاه يادهغه نائب به وي./نمبر۵.دجماعت لمونځ به وي .دصاحبينوپه نزدامام اوجماعت شرط نه دی .نودپنځم شرط په اساس که چاپه خپل پړاوکې دماپښين لمونځ اداء کړنودده ته جائزنه ده چې دعصرلمونځ دماپښين له لمانځه سره يوځای دماپښين په وخت کې اداء کړي بلکه عصربه په خپل وخت کې اداء کوي ځکه چې دامام صاحب رحمه الله په نزدجمع بين الصلوتين لپاره جماعت شرط نه دی ،حال داچې دصاحبينوپه نزدجماعت شرط نه دی لهذامنفردهم جمع بين الصلوتين کولی شي ځکه چې مقصوددادی چې دوقوف عرفه لپاره زيات وخت پاته شي اوداغرض دمنفردپه حق کې هم ثابت دی ،امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې دپه خپل وخت کې دلمانځه داداء کولوفرضيت په نص سره ثابت دی لهذاددي ترک جائزنه دی الاداچې ددي خلاف شريعت واردشوی وي اودلته دشريعت ورودپه دي صورت کې دی چې څوک له امام سره په جماعت باندي لمونځ اداء کړي لهذاله جماعت څخه بغيرپه ددي اجازت نه وي.

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی کمافی الدرالمختار:وقالا لايشترط لصحة العصرالاالاحرام وبه قالت الثلاثة وهو الاظهرشرنبلالية عن البرهان ،وقال ابن عابدين :(قوله وهوالاظهر)لعله من جهة الدليل والافالمتون على قول الامام وصححه فى البدائع وغيرهاونقل تصحيحه العلامة قاسم عن الاسبيجابى وقال واعتمده برهان الشريعة والنسفى (الدرالمختارمع الشامية:۱۸۹/۲)، همدا رازقاعده داده چې په متونوکې ذکرشوی قول راجح وي ،همداشان که يوقول دامام وو اوبل دصاحبينو وونوترجيح به دامام صاحب قول ته حاصله وی کمافی اصول الافتاء :اذاكان احدالقولين مذكورا فى المتون والاخر مذكورا فى غيرهافالراجح مافى المتون وايضا اذاكان احدهماقول الامام والاخرقول صاحبيه فالراجح قول الامام (اصول الافتاء:ص۴۷)

دوقوف عرفات بيان

(۴۸)ثُمَّ إِلَى الْمَوْقِفِ وَقِفْ بِقُرْبِ الْجَبَلِ (۴۹)وَعَرَفَاتٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ عُرَنَةَ (۵۰)حَامِدًا مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا مُصَلِّيًا دَاعِيًا

ترجمه :بيا (ولاړشه)دموقف طرف ته اوودريږه دجبل رحمت په قرب کې ،اوټول عرفات ددريدلوځای دی مګرنه بطن عرنة ،په داسې حال کې چې حمداوثناءاوتکبيراوتهليل اوتلبيه اودرود اودعاء به وايې.

تشریح: (۴۸) قوله ثم الی الموقف ای بعد اداء الصلوتین رح الی الموقف ،یعنی کله چې له جمع بین الصلوتین څخه فارغ شې د موقف (په عرفات کې د دریدلو ځای) طرف ته متوجه شه جبل رحمت ته قریب د کعبې طرف ته متوجه ودریږه ځکه چې نبی کریم ﷺ له لمانځه څخه وروسته موقف ته روان شوی وو .

ف: باقي په غره ختل لکه څرنګه چې عوام دا افضل ګڼي دا بې اصله خبره ده بلکه ټول عرفات په حکم کې برابر ده کما قال ابن عابدین :واما صعوده کما یفعله العوام فلم یذکر احد ممن یعتد به فیه فضلیة بل حکمه حکم سائر ارض عرفات (ردالمحتار:۲/۱۸۹)

ف: وقوف عرفات رکن دی او وخت یې د نهم ذوالحجه له زوال څخه د یوم النحر تر طلوع فجر پورې دی البته ټول وخت وقوف کول رکن نه دی بلکه یو ګړی دریدل رکن دی او تر غروب افتاب پورې پاته کیدل واجب دي نو که کوم شخص له غروب شمس څخه وړاندې له حدود عرفات څخه ووځي نو پر ده دم لازمیږي الا په دې صورت کې چې له غروب افتاب څخه وړاندې بیرته واپس راشي ،البته که امام له غروب شمس وروسته ځنډ وکړي نو خلک دي ولاړ شي ځکه چې له غروب څخه وروسته پاته کیدل د سنت څخه مخالف دي کما في الشامیة :(قوله واذا غربت الشمس الخ) بیان للواجب حتی لو دفع قبل الغروب فان جاوز حدود عرفة لزمه دم الا ان یعود قبله ویدفع بعده فیسقط خلافا لزفر بخلاف مالو عاد بعده قبل الغروب ولو مکث بعد ما افاض الامام کثیرا بلا عذر اساء ولو ابطأ الامام ولم یفض حتی ظهر اللیل افاضوا لانه اخطأ السنة (ردالمحتار:۲/۱۹۱)

(۴۹) عرفات ټول د دریدلو ځای دی مګر عرنه نومې وادی ،کومه چې د عرفات په برابرې کې د موقف په کین طرف واقع ده چیرته چې شیطان دریدلی وو د دریدلو ځای نه دی ﴿ لقوله ﷺ عَرَفَاتٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ وَارْتَفِعُوا عَنْ بَطْنِ عُرَنَةَ ﴾ (یعنی عرفات ټول موقف دی هوله وادی عرنه څخه پورته اوسئ).

(۵۰) قوله حامدا مکبرا مهللا ملبیا الخ ای وقف بقرب الجبل حال کونک حامدا مکبرا مهللا ملبیا الخ ،یعنی په موقف کې تسبیح، تکبیر او تهلیل وو ایه ځکه چې د دې اعمالو په باره کې اثار مروی دي ،او تلبیه وایه ځکه چې له حضرت فضیل ابن عباس ﷺ څخه مروی ده ﴿ ان رسول الله ﷺ لم یزل یلبي حتی رمی جمرة العقبة ﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ تر رمی جمرة عقبه پورې تلبیه ویله)،او درود شریف وایه ځکه چې درود شریف د قبولیت دعاء لپاره وسیله ده ،او دعاء دې کوي ځکه چې مروی ده چې نبی کریم ﷺ د عرفې په ورځ خپل دواړه لاسونه وغوړول او د ډوډۍ غوښتونکې مسکین په څیرې دعاء کوله ،خلک دي هم د امام قریب ودریږي تر څو د ده په دعاء باندې امین ووایې او د امام شاته دي ودریږي تر څو مخ پر قبله وي .

د دعاء د قبولیت ځایونه

ف: د عرفې وقوف کونکوته مستحب ده چې له وقوف څخه وړاندې غسل وکړي ځکه چې دا هم د جمعې په شان د اجتماع ورځ ده ،او د خپل مور پلار ،اهل وعیال ،قریبانو او همسایه ګانو لپاره دې ښې دعاګانې وکړي ځکه چې دا د دعاء د قبلیدلو ځای دی علماء لیکې چې په حج کې په پنځه لسو ځایونو کې د قبولیت دعاء ډیر امید کیدای شي کما في نهر الفائق: واعلم ان مواضع استجابة الدعاء ای کثرة رجاء استجابته حصروها في خمسة عشر موضعا في الحج جمعها في قولي:

دعاء البرايا يستجاب بكعبة وملتزم والموقفين كذا الحجر

طواف وسعي مروتين وزمزم مقام وميزاب جمارك تعتبر

والمراد بموقفين عرفة والمشعر الحرام (النهر الفائق: ٢/٨٣)

(٥١) ثُمَّ إِلَى مُزْدَلِفَةَ بَعْدَ الْغُرُوبِ (٥٢) وَانْزِلْ بِقُرْبِ جَبَلِ قُزَحَ (٥٣) وَصَلِّ بِالنَّاسِ الْعِشَاءَيْنِ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ (٥٤) وَلَمْ تَجُزِ الْمَغْرِبُ فِي الطَّرِيقِ (٥٥) ثُمَّ صَلِّ الْفَجْرَ بِغَلَسٍ ثُمَّ قِفْ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا مُصَلِّيًا على النبي صلى الله عليه وسلم دَاعِيًا (٥٦) وَهِيَ مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ مُحَسِّرٍ

ترجمه: بیا د مزدلفې طرف ته ولاړ شه له غروب شمس وروسته، او کښته شه د جبل قزح قریب، او ورکړه خلګو ته د عشاء او مغرب لمونځ په یوه اذان او یوه اقامت سره، او جائز نه دی د مغرب لمونځ په لاره کې، بیا د فجر لمونځ اداء کړه په تیاره کې بیا وقوف وکړه په داسې حال کې چې تکبیر او تهلیل او تلبیه او پر نبی کریم ﷺ درود او خپل رب ته دعاء ګانې کوي، او مزدلفه د دریدلو ځای دی ماسوا له بطن محسر څخه.

تشریح: (٥١) قوله ثم الی مزدلفة ای ثم رح الی مزدلفة، یعنی د نهم ذوالحجې تر لمر لویدلو پورې دې په عرفات کې پاتې شي له غروب شمس وروسته دې امام له خلګو سره یوځای په وقار او سکون سره مزدلفې ته راشي ځکه چې نبی کریم ﷺ له غروب شمس څخه وروسته روان شوی وو او په خپله سورلۍ په لاره کې په سکون سره تللو، او په مزدلفه کې دې پړاو وکړي، مزدلفه له زلفی څخه ده د قرب په معنی، نو په مزدلفه کې ځکه چې خلګ د الله تعالی قرب حاصلوي په دې وجه سره دې ته مزدلفه وایې.

(٥٢) او د هغه غره قریب دې کښته شي په کوم چې میقده (میقده هغه ځای دی په کوم چې به د جاهلیت په زمانه کې اور لګاوو چې په هغه به خلګو رهنمائي حاصلوله) ده کوم ته چې جبل قزح (بضم القاف) ویل کیږي ځکه چې نبی کریم ﷺ د همدې قزح نومې غره قریب پړاو کړی وو.

ف: قزح (بضم القاف) د لوړې په معنی سره دی د لوړوالي په وجه سره ده ته قزح ویل کیږي او د باری تعالی له ارشاد (عند المشعر الحرام) څخه همدا غر مراد دی، لفظ قزح د علمیت او عدل په وجه غیر منصرف دی ځکه چې قزح له قازح څخه معدول دی، د جاهلیت په زمانه کې به قریش عرفات ته نه تلل دلته په مشعر حرام کې به یې پړاو کاوو. (کذا فی رد المحتار: ٢/١٩١)

(٥٣) مزدلفې ته له راتلو څخه وروسته دې امام خلګو ته د مغرب او عشاء لمونځونه یوځای د عشاء په وخت کې په یوه اذان او یوه اقامت سره ورکړي، دلته اقامت هم د دواړو لمونځونو دپاره یو دی ﴿لحدیث جابر ﷺ ان النبی ﷺ جمع بینهما باذان واقامة واحدة﴾ (له حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ مغرب او عشاء دواړه په یو اذان او یوه اقامت سره جمع کړل) همدارنګه په دې وجه هم ځکه چې د عشاء لمونځ په خپل وخت کې اداء کیږي لهذا د ده لپاره د مستقل اقامت ضرورت نشته، باقي په عرفات د عصر لمونځ ځکه چې له وخت څخه وړاندې اداء کیدو ځکه نو هلته د ده لپاره مستقل اقامت کیدو.

(٥٤) که چا په لاره کې د ماښام لمونځ اداء کړ نو د طرفینو په نزد جائز نه دی ځکه چې نبی کریم ﷺ اسامه بن زید ﷺ ته فرمایلي وو ﴿الصلاة أمامك﴾ (یعنی لمونځ ستا مخته دی) مراد دا دی چې د لمانځه وخت ستا مخته یعنی په مزدلفه کې دی تر څو جمع بین الصلوتین ممکن وي نو له حدیث شریف څخه معلومه شوه چې د حاجیانو په حق کې د مغرب وخت له غروب شمس څخه نه شروع کیږي بلکه وروسته د اخلیږي او لمونځ

له خپل وخت څخه وړاندي اداء كول جائزنه دی ،حال داچې دامام ابويوسف رحمه الله په نزد جائزمګرخلاف سنت ده.

ف :دطرفينو قول راجح دی كماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد:والصحيح الماهوقول الطرفين ای امام ابوحنيفة ومحمدلكن لايخفى على اولى النظران المرادمن عدم الجوازعدم الحل لاعدم الصحة وبه على هذه الدقيقة ابن الهمام فى الفتح وابن النجيم فى البحر وقداخطاصاحب ردالمحتارحيث ابقاعدم الجوازعلى معناه المتبادريعنى عدم الصحة وايضالايخفى ماقالوان هذاالحكم اعنى عدم الجواز مقيدبمااذاذهب الى المزدلفة من طريقهااماذاذهب الى المكة جازله ان يصلى المغرب فى الطريق فلاتوقف فى ذالك وهذه فائدة جليلة(هامش الهداية: ۱/۲۲۹)

(۵۵)يعنی دلسم ذوالحجه شپه دي په مزدلفه کې تيره کړي اوچې څرنګه سهارشي نوامام دي په تياره کې خلکو ته دفجر لمونځ ورکړي ولی چې له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبی کريم ﷺ په دې ورځ دسهارلمونځ په تياره کې اداء کړ،همداراز دفجرلمونځ په تياره کې داداء کولوپه صورت کې دوقوف لپاره ډيروخت پاته کيږي لکه څرنګه چې دوقوف عرفات دپاره دتقديم عصرحکم وو ،له لمانځه څخه وروسته دي امام اوخلک وقوف مزدلفه وکړي وقوف مزدلفه واجب ده.دوقوف مزدلفې وخت له طلوع فجرڅخه ترطلوع شمس پوري دی که څه هم يوګړی وي دلته دي هم بني دعاء ګانې وکړي اوتکبير، تهليل،تلبيه اودرودشريف دي ووايي ولی چې نبی کريم ﷺ په مزدلفه کې ددعاء په حال وقوف کړی وو.

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدوقوف مزدلفه رکن دی لقوله تعالى ﴿ فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ﴾(يعنی کله چې تاسې له عرفات څخه واپس شی نوله مشعرحرام سره دالله تعالى ذکروکړئ)له مشعرحرام څخه مرادمزدلفه ده .داحنافودليل دادی چې نبی کريم ﷺ په خپل اهل خانه کې ضعفاء له وقوف مزدلفه څخه بغيرپه شپه کې وختې وليږدول حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چې زه هم په دې ضعفاؤکې وم .نوکه وقوف مزدلفه رکن وای نونبی کريم ﷺ به خپل اهل خانه له وقوف کولوڅخه بغيرمخته نه ليږدول ځکه چې رکن دعذرپه وجه سره هم پريښودل جائزنه دي .

(۵۶)قوله وهی موقف الابطن محسرای المزدلفة کلهاموقف الابطن محسر،يعنی مزدلفه ټوله موقف (ددريدلوځای)دی مګرپه محسرنومې وادی (محسردمزدلفې په کيڼ طرف کې له مزدلفې څخه کښته واقع ده چيرته چې شيطان دريدلی وو)کې دي نه دريږي ﴿ لقوله ﷺ المزدلفة کلهاموقف وارتفعواعن وادی محسر ﴾(يعنی مزدلفه ټوله موقف ده هوله وادی محسرڅخه لوړ اوسئ)،مکبرامهللامصليامليهاداعيا،احوال مترادفه يامتداخله دي په ثم قف کې له ضميرمستترڅخه .

(۵۷)ثُمَّ إِلَى مِنًى بَعْدَمَا أَسْفَرَ (۵۸)فَارْمِ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ كَحَصَى الْخَذْفِ (۵۹)وَكَبِّرْ بِكُلِّ حَصَاةٍ (۶۰)وَاقْطَعِ التَّلْبِيَةَ بِأَوَّلِهَا (۶۱)ثُمَّ اذْبَحْ (۶۲)ثُمَّ احْلِقْ أَوْ قَصِّرْ وَالْحَلْقُ أَحَبُّ وَحَلَّ لَكَ غَيْرُ النِّسَاءِ

ترجمه :بيا ولاړشه دمنی طرف ته له رڼاکيدلوڅخه وروسته ،نورمی وکړه دجمره عقبه له بطن وادی څخه په اوو دبروبسره لکه دکودروتکري ،اوتکبيرووايه له هري دبري سره ،اوقطع کړه تلبيه په اوله ډبره ،بياقرباني وکړه ،بياسروخريه ياپې کوچنی کړه اوخريل افضل دی اوحلال شول ستاپاره هرشی ماسواله ښځو.

تشريح: (٥٧) قوله ثم الى منى اى ثم رح من مزدلفة الى منى، يعني له وقوف مزدلفه كولو څخه وروسته چې كله ښه رڼاشي له طلوع شمس څخه وړاندې دې امام سره له خلكو په تكبير، تهليل او تلبيه ويلو سره منى ته راشي ځكه چې نبى كريم ﷺ له طلوع شمس څخه وړاندې روان شوى وو، او په لاره كې يې تكبير، تهليل او تلبيه ويله.

درمي جمرات بيان

(٥٨) دلته دې جمره عقبه له بطن وادى څخه ويلې دجمرې دويشتلو پروخت داسې ودرېږه چې بيت الله ستا كيڼ لورته او منى ستا ښي لورته وي او دكوډرو په شان په اوو ډبرو سره يې وله ﴿لحديث سليمان بن عمرو بن الاحوص عن امه قالت رأيت رسول الله ﷺ يرمي الجمرة من بطن الوادي وهو راكب يكبر مع كل حصاة وفى حديث ابن مسعود ﵁ سبع حصيات﴾ (يعني نبى كريم ﷺ جمره عقبه له بطن وادى څخه په دې حال كې ويشتله چې په سورلى باندې سپور وو او له هرې ډبرې سره يې تكبير وايه او دابن مسعود ﵁ په حديث كې داووه ډبرو ذكر دى). او ډبرې دې دكوډرو دټكړو په شان وي ﴿لقوله ﷺ عليكم بحصى الخذف لايؤذي بعضكم بعضا﴾ (يعني دكوډرو ټكړې راخلئ او ځيني له تاسو دې ځينو نورو ته زحمت نه وركوي).

ف: تر ټكړو كوچنى يا لويې ډبرې ويشتل هم جائز دي ځكه چې مقصود (يعني رمي جمره) حاصله شوه مګر چې دومره لويې نه وي چې له هغوئ څخه چاته دتكليف رسيدلو خطره وي كما فى الشمنية :والمختار انها مقدار الباقلاء اى قدر الفولة وقيل قدر الحمصة او النواة او الانملة قال فى النهر هذا بيان المندوب واما الجواز فيكون ولو بالاكبر مع الكراهة. (ردالمحتار: ٢/١٩٣)

ف: درمي طريقه داده چې ډبره دخپلې ښي په شاكښيږدي او دشهادت دګوتې په كومك سره يې وار كړي او درمي كونكي او دډبرې دلويدلو ترمنځ لږترلږه بايد پنځه ګزه فاصله وي ځكه چې له دې څخه په لږ فاصله كې ويشتل نه بلكه اچول دي حال دا چې سنت ويشتل دي اچول نه دي، ليكن كه يو چا ډبره واچوله نو هم كافى ده مګر دخلاف سنت په كولو سره ده ښه كار و نه كړ كما فى شرح التنوير: (سبعا خذفا) بمعجمتين اى برؤس الاصابع ويكون بينهما خمسة الذرع، قال ابن عابدين: (قوله خمسة اذرع) اى او اكثر ويكره الاقل لباب، لانه مادونه وضع فلايجوز او طرح فيجوز لكنه مسئ لمخالفته السنة (ردالمحتار: ٢/١٩٥)

(٥٩) دهرې ډبرې له ويشتلو سره دې تكبير وايي، لمارويناه من حديث سليمان بن عمرو ابن الاحوص عن امه. او كه چا دتكبير پرځاى تسبيح وويله نو هم جائزده ولې چې له تكبير څخه مراد ذكر دى، له ډبرو ويشتلو څخه وروسته دې له جمرې سره نه درېږي ځكه چې نبى كريم ﷺ له دې سره توقف نه دى كړى.

(٦٠) په جمره عقبه باندې له اولې ډبرې ويشتلو سره دې تلبيه قطع كړي ولې چې له حضرت فضيل ابن عباس ﵄ څخه مروى ده ﴿لم يزل النبي صلى الله عليه وسلم يلبي حتى رمى جمرة العقبة﴾ (يعني نبى كريم ﷺ تر رمى جمره عقبه پورې تلبيه ويله)، همدا راز له حضرت جابر ﵁ څخه روايت دى چې نبى كريم ﷺ جمرې عقبې ته داولې ډبرې دويشتلو په وخت تلبيه قطع كړې وه.

ف: درمی وخت له طلوع فجر څخه ترغروب شمس پورې دی له طلوع فجر څخه وړاندې رمی صحیح نه ده، له طلوع فجر څخه ترزوال پورې مستحب ده له زوال څخه ترغروب شمس پورې مباح ده او له غروب شمس څخه ترطلوع فجرپورې مؤخر کول مکروه ده کمافی الدرالمختار: ووقته من الفجرالی الفجرویسن من طلوع ذکاء لزوالها ویباح لغروبها ویکره للفجر، وقال ابن عابدین: (قوله ووقته) ای وقت جوازه اداء من الفجر ای فجر النحر الی فجر الیوم الثانی قال فی البحر حتی لواخره حتی طلع الفجر فی الیوم الثانی لزمه دم عنده خلافا لهما ولو رمی قبل طلوع فجر النحر لم یصح اتفاقا (الدرالمختار مع الشامیة: ۱۹۶/۲). دامام شافعی رحمه الله په نزد له نصف لیل څخه وروسته جائزده .زموږ دلیل دادی چې نبی کریم ﷺ حضرت ابن عباس رضی الله عنه او داهل بیت ضعفاؤ ته وفرمایل چې له سهار څخه وړاندې رمی مه کوئ ،او په یو بل روایت کې دي چې له طلوع شمس څخه وړاندې رمی مه کوئ نوله اولې روایت څخه وخت جواز او له دوهم روایت څخه وخت افضل معلومیږي .

ف: په حج ترټولو سخته مرحله درمی جماروي دهجوم اوازدهام (ګڼې ګوڼې) په وجه سره دترپښولاندې کیدلو خطره وي، په دې حالاتو کې ددخبرې ضرورت دی چې درمی دوختونو تفصیلات په ښه طریقه سره ذکرای شې او هغه دادي (۱) په لسم ذالحجې کې درمی مستحب وخت له طلوع شمس څخه بیاترزوال پورې دی ،بې له کراهته جائزوخت له زوال شمس څخه ترغروب شمس پورې دی ،له کراهته تنزیهی سره دجوازوخت له طلوع فجر څخه ترطلوع شمس پورې او له غروب شمس څخه ترطلوع فجردې یولسم ذی الحجې دی .مګرداکراهة تنزیهی هم هغه وخت دی چې دعذرپه وجه سره په رمی کې تاخیرنه وي شوی ......په موجوده حالاتو کې دهجوم کثرت اوځان خطره په خپل ځای درمی دتاخیرلپاره دیومعقول عذردرجه لري .اوپه یولسم اودولسم ذی الحجه کې مسنون وخت له زوال شمس څخه ترغروب شمس پورې دی اودجوازوخت له غروب شمس څخه ترطلوع دفجرپورې دی ،دامام ابوحنیفه رحمه الله دیوه قول مطابق په یولسم اودولسم ذی الحجه له زوال څخه وړاندې هم رمی کول جائزدی ،نو ددې تفصیلاتو په روښنې کې په ښځو ،اوسپین ږیرو او کمزورو خلکو دوخت له رعایت څخه په فائده حاصلولوباید دشپې وخت رمی وکړای شې ،او که کوم حاجی دومره معذوراو کمزوروي چې دشپې پروخت هم رمی کول دده لپاره ممکن نه وي نوبیادنوروائمه و اودځینو احنافو دصراحت مطابق دنیابة رمی ګنجائش شته .(جدید فقهی مسائل :۲۶۰/۱)

(۶۱) قوله ثم الذبح ای بعد الفراغ من الرمی الذبح ،یعنی بیاکه یې خوښه وه نوذبح دې وکړي ﴿ لحدیث جابر رضی الله عنه أَنَّهُ صلى الله عليه وسلم لَمَّا رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ انْصَرَفَ إِلَى الْمَنْحَرِ فَنَحَرَ بِيَدِهِ ثَلَاثًا وَسِتِّينَ بَدَنَةً وَأَمَرَ عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا غَبَرَ وَأَشْرَكَهُ وكان ماغبر سبعا وثلاثين﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ له رمی جمره عقبه څخه وروسته دمنحرطرف ته راغی او په خپل لاس سره یې دري شپیته اوښان ذبح کړل او دباقی دذبح کولو یې حضرت علی رضی الله عنه ته حکم وکړاو هغه اوه دیرش اوښان وو)ځرنګه چې داحج افراد دی لهذا داقربانی واجب نه ده بلکه تطوع ده .

(۶۱) بیادې پوره سروخریې یادې کوچنی کړي یادې لږترلږه ربع سروخریې یادې کوچنی کړي او خریل افضل دي ﴿ لقوله ﷺ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ قالوا يا رَسُولَ اللَّهِ وَلِلْمُقَصِّرِينَ قال اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ قالوا يا رَسُولَ اللَّهِ وَلِلْمُقَصِّرِينَ قال اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ قالوا يا رَسُولَ اللَّهِ وَلِلْمُقَصِّرِينَ قال وَلِلْمُقَصِّرِينَ﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ دسرخریونکو دپاره دري ځله درحمت دعاء وکړه او دمقصرینولپاره یو ځل)، همدارازپه دې وجه سره هم چې الله تعالی په قران

مجيدكې محلقين له مقصرينو څخه وړاندي ذكركړى دى ،همدارازحلق په صفائي حاصلوكې دقصرپه نسبت اكمل دى.

ف:بايدپادوساتل شي چې دقصرپه صورت كې دګوتوتربندونو كم پري نه كړي ،وهذاالتقديرمروى عن ابن عمر ﷺ(يعنى دامقدارله حضرت ابن عمر ﷺ څخه مروى دى)،دټول سروېښتان پري كول مندوب دي اوديوي ربعي په قدر واجب دي ،اوډيك پرسربليلډتيرول واجب دي كمافى شرح التنوير:(ثم قصر)بان ياخذمن كل شعرة قدرالانملة وجوبا وتقصيرالكل مندوب والربع واجب ويجب اجزاء الموسى على الاقرع ,قال ابن عابدين :(قوله ويجب اجزاء الموسى على الاقرع)هوالمختاركمافى الزيلعى والبحروالباب وغيرهاوقيل استحباباوقيل استناناوهوالاظهر(الدرالمختار:٢/١٩٧)

(٦٢)له حلق ياتقصيرڅخه وروسته دحاجى لپاره داحرام له ممنوعاتوڅخه هرشى حلال شول ماسواله ښځي سره جماع اودجماع دواعى چې دالاتراوسه جائزنه دي ﴿ لقوله ﷺ إذَا رَمَيْتُمْ وَذَبَحْتُمْ فَقَدْ حَلَّ لَكُمْ كُلُّ شَيْءٍ إلَّا النِّسَاءُ ﴾ (يعنى كله چې تاسي رمى اوذبح وكړى نوستاسي لپاره هرشى حلال شوماسواله ښځوڅخه).

(٦٣)ثُمَّ إلَى مَكَّةَ يَوْمَ النَّحْرِ أَوْ غَدًا أَوْ بَعْدَهُ فَطُفْ لِلرُّكْنِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ (٦٤)بِلَا رَمَلٍ وَسَعْيٍ وَإِنْ قَدَّمْتَهُمَا وَإِلَّا فَعَلَا وَحَلَّ لَكَ النِّسَاءُ (٦٥)وَكُرِهَ تَأْخِيرُهُ عَنْ أَيَّامِ النَّحْرِ (٦٦)ثُمَّ إلَى مِنًى فَارْمِ الْجِمَارَ الثَّلَاثَ فِي ثَانِي النَّحْرِ بَعْدَ الزَّوَالِ بَادِئًا بِمَا يَلِي الْمَسْجِدَ ثُمَّ بِمَا يَلِيهَا ثُمَّ بِجَمْرَةِ الْعَقَبَةِ وَقِفْ عِنْدَ كُلِّ رَمْيٍ بَعْدَهُ رَمْيٌ (٦٧)ثُمَّ غَدًا كَذَلِكَ (٦٨)ثُمَّ بَعْدَهُ كَذَلِكَ إنْ مَكَثْتَ

ترجمه:بياراشه مكې مكرمې ته په لسم تاريخ يايولسم تاريخ اويادولسم تاريخ نوطواف ركن وكړه اوه شوطه ،بغيرله رمى اوسعي څخه كه دي دواړه وړاندي كړي وو كه نه نو اوس يې وكړه اوحلالې شوي ستالپاره ښځې ،اومكروه ده ددي تاخيرله ايام نحرڅخه ،بياولاړشه دمنى لورته اوويله دري سره جمري په يولسم تاريخ له زوال څخه وروسته په داسې حال كې چې شروع به كوې په هغه سره كومه چې دمسجد طرف ته ده بياهغه كومه چې له دي سره متصله ده بياجمرهٔ عقبه اوودريږه له هرهغه رمې څخه وروسته چې له هغې وروسته رمى وي ،بياصباهمداشان وكړه ،بياله دي څخه وروسته هم همداشان وكړه كه ته پاته شوي.

دطواف زيارت بيان

تشريح:(٦٣)قوله ثم الى مكة اى ثم رح الى من منى الى مكة ،يعنى له ذبح او حلق څخه وروسته دي حجاج په همدي ورځ يعنى په لسم دذى الحجې يا په يولسم اويا په دولسم مكې مكرمې ته راشي مګرافضل لسم ذى الحجه ده .په مكه مكرمه كې دي دبيت الله اوه شوطه طواف وكړي (دي ته طواف زيارت ،طواف افاضه اوطواف يوم النحرويل كيږي)ځكه چې مروى ده چې نبى كريم ﷺ چې كله سروخرييونومكې مكرمې ته يې تشريف راوړى اودبيت الله طواف يې وكړبياواپس منى ته راغى اوپه منى كې يې دماپښين لمونځ اداء كړ،داطواف ركن دى ولې چې دبارى تعالى په ارشاد ﴿ وليطوفوا بالبيت العتيق ﴾ (يعنى بنده ګان دي دبيت الله طواف وكړى)دهمدي حكم ورکړل شوى دى.

(٦٤)قوله بلارمل وسعى الخ اى طف للركن سبعة اشواط بلارمل وسعى الخ ،يعنى كه په طواف قدوم كې حاجى رمل اوسعى بين الصفاوالمروه كړي وي نواوس دي په دي طواف كې رمل اوله هغه څخه وروسته سعى بين

الصفاوالمروه نه كوي ولى چې سعى يو ځل له كوم طواف څخه واجب ده دوهم ځل جائزنه ده اورمل صرف په هغه طواف كې مشروع ده چې له هغه څخه وروسته سعى وي .اوكه په طواف قدوم كې يې رمل اوسعى بين الصفاوالمروه نه وي كړي نواوس دي په طواف زيارت كې وكړي ،له دي طواف څخه وروسته حاجي ته ښځې هم حلاليږي ځكه چې منع دحج په وجه وه اوحج په طواف زيارت باندي مكمل شو.

ف:دابايديادوساتل شې چې دښځوحلال والى دطواف په وجه سره نه ده بلكه دحلق سابق په وجه سره ده ولى چې محلل حلق دى طواف نه دى ،هودحلق دااثرله طواف څخه وروسته ښكاره كيږي لكه څرنګه چې دطلاق رجعى اثرله عدة څخه وروسته ښكاره كيږي نوكله چې ده طواف وكړنودده لپاره ښځې حلالې شوي.

(٦٥)طواف زيارت له ددي دريوورځو(يعنى لسم ،يولسم اودولسم ذوالحجه)څخه بلاعذر مؤخركول مكروه تحريمي دى ولى چې قربانى يعنى ذبح كول په دي ايامو سره موقته ده نوطواف زيارت به هم په دي ايامو موقت وي ځكه چې الله تعالى طواف پرذبح باندى عطف كړى دى كمافى قوله تعالى ﴿فكلوامنهاواطعمواالبائس الفقيرثم ليقضواتفثهم وليوفوانذورهم وليطوفوا بالبيت العتيق﴾ ،نوكه يې طواف له ايام نحرڅخه مؤخركړنودامكروه تحريمي دى اودترك واجب په وجه سره پرده دم لازم دي كمافى الدرالمختار:(فان اخره عنها)اى ايام النحرولياليهامنها(كره)تحريما(ووجب دم)لترك الواجب(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:١٩٩/٢)

ف:طواف زيارت په ايام نحرسې موقت دى لهذادتاخيرپه صورت كې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددم لازميږي، دصاحبينوپه نزدهيڅ شى نه لازميږي ،البته حائضه اونفاسه ښځه دعذرپه وجه له دي حكم څخه مستثنى ده چې هغه له دي ورځوڅخه وروسته بلاكراهته طواف كولى شې ،دامام صاحب قول راجح دى لمافى الدرالمختار:اواخرالحاج الحلق اوطواف الفرض عن ايام النحرلتوقتهمابهااوقدم نسكاعلى اخر،وقال ابن عابدين:(قوله لتوقتهما)اى الحلق وطواف الفرض بهااى بايام النحرعندالامام وهذاعلة لوجوب الدم بتاخيرهماقال فى شرنبلالية وهذااذاكان تاخيرالطواف بلاعذرحتى لوحاضت قبل ايام النحرواستمربهاحتى مضت لاشئ عليها(الدرالمختارمع الشامية:٢٢٦/٢)

(٦٦)قوله ثم الى منا اى لم يرح من مكة الى منى ،يعنى له طواف زيارت څخه له فراغته وروسته دي بيرته منى ته ولاړشې په مكه مكرمه كې دشپه نه تيروي په منى كې دي اقامت وكړي نوكله چې په يولسم تاريخ زوال وشي نودري سره جمري دي وويلې ،سنت داده چې كومه جمره مسجدخيف ته نژدې ده په هغې دي شروع وكړي په اووډبرودي وويلې اوله هري ډبري سره دي تكبيروايې له ويشتلووروسته دي ودريږي اودعاء دي وكړي ،بياچې دي ته كومه قريبه جمره ده هغه دي په همدي شان سره په اوو ډبروويلې اوپه اخركې دي ودريږي اودعاء دي وكړي ،بيادي جمره عقبه په همدي شان سره وويلې مګرله دي وروسته دي نه دريږي﴿لحديث عائشة رضي الله عنها قالت أفاض النبي صلى الله عليه وسلم من يومه حين صلى الظهر ثم رجع إلى منى فمكث بها ليالي أيام التشريق يرمي الجمار إذا زالت الشمس كل جمرة بسبع حصيات يكبر مع كل حصاة ويقف عند الأولى والثانية فيطيل المقام ويتضرع ويرمي الثالثة ولا يقف عندها﴾(يعنى نبى كريم ﷺ دعيدالاضحى په ورځ په اخركې طواف وكړكله چې يې دظهرلمونځ اداء كړبيايې دتشريق په ورځوكې په منى كې قيام وفرمايوهره جمره به يې په اووډبروسره ويشتله دزوال پروخت اوله هري ډبري سره به يې تكبيروايه له اولنى اودوهمې جمري سره ترډيره پوري ودريدواوپه زړاسره يې دعاء كړه اوددريمې جمري له ويشتلوسره يې قيام نه كاووه ددي شاوخوا).

ف: وقت هذا کل رمی بعد رمی ، څخه مصنف مصنف رحمه الله همدا بیان کړی دی چې له اولنیو دوو جمرو وېښتلو څخه وروسته دې ودرېږي مګر له جمرې عقبې څخه وروسته دې نه درېږي لمامر.

ف: په یولسم او دولسم تاریخ باندې درمی جمار وخت له زوال څخه وروسته شروع کېږي او دراتلونکې ورځې ترطلوع شمس پورې وي او وخت مسنون به دې دووو رځو کې له زوال څخه ترغروب افتاب پورې دی او له غروب افتاب څخه بیا ترطلوع فجرپورې مکروه وخت دی کمافی الشامیة: قال فی اللباب وقت رمی الجمار الثلاث فی الیوم الثانی والثالث من ایام النحر بعد الزوال فلایجوز قبله فی المشهور وقیل یجوز والوقت المسنون فیهما یمتد من الزوال الی غروب الشمس ومن الغروب الی الطلوع وقت مکروه (ردالمحتار: ۲/ ۲۰۱)

ف: له اولنیو دوو جمرو وېښتلو وروسته دې دعاء وکړي او لاسونه دې پورته کړي ﴿لقوله ﷺ لا ترفع الأیدي إلا في سبع مواطن وذكر من جملتها عند الجمرتين﴾ (یعنی لاسونه دې نه پورته کېږي مګر په اوو ځایونو کې او له دې څخه یې ددوو جمرو وروسته پورته کول ذکر کړل) او مناسب ده چې په دې موقع باندې دټولو مسلمانانو لپاره استغفار وکړي ﴿لان النبی ﷺ قال اللهم اغفر للحاج ولمن استغفر له الحاج﴾ (یعنی ای الله تعالی حاجی ته مغفرت وکړې او حاجی چې دچا پاره دمغفرت دعاء وکړي هغه ته هم مغفرت وکړې).

(۶۷) په راتلونکې ورځ یعنی په دولسم تاریخ دې بیا دري سره جمرې په همدې شان سره وویلي.

(۶۸) اوس که دحاجې مکې مکرمې ته دتللو تلوار وي نو ددیارلسم تاریخ له طلوع فجر څخه وړاندې تللی شي لیکن که ددیارلسم تاریخ (کوم چې دایام نحر څلورمه ورځ ده) ترفجرپورې پاته شو او دا پاته کېدل افضل هم دی (اقتداء بفعله ﷺ) نو په دیارلسم تاریخ دې هم دري سره جمرې وروسته له زوال څخه وویلي او مکې مکرمې ته دې ولاړ شي لقوله تعالی (فمن تعجل فی یومین فلا اثم علیه ومن تاخر فلا اثم علیه) (یعنی کوم کس چې تلوار وکړي په دووو رځو کې نو پر ده هیڅ ګناه نشته او څوک چې تاخیر وکړي نو پر هغه هم هیڅ ګناه نشته).

ف: دمصنف رحمه الله په عبارت ثم غدا کذالک ، کې لفظ دثم عاطفه ده او غدا کذالک معطوف دی په الجمار الثلث فی ثانی النحر باندې ای ثم ارم غدا کذلک ، او په ثم بعده کذالک کې هم ثم عاطفه ده ، ای ثم ارم بعده کذالک.

(۶۹) ولو قدمت في اليوم الرابع قبل الزوال صح (۷۰) وكل رمي بعده رمي قام عندها لا الا تبعها (۷۱) وكره أن تقدم ثقلك وثقيم بمنى للرمي (۷۲) ثم الى المحصب (۷۳) ثم طف للصدر سبعة أشواط (۷۴) وهو واجب الا على اهل مكة (۷۵) ثم اشرب من زمزم والتزم الملتزم وتشبث بالأستار والتصق بالجدار

ترجمه: او که تا رمی وکړه په څلورمه ورځ (یعنی په دیارلسم تاریخ) له زوال څخه وړاندې نو صحیح ده ، او هر هغه رمی چې له هغې څخه وروسته رمی شته نو هغه رمی پیاده کوه که نه نو دسورتیا په حال کې ، او مکروه ده دا چې ته وړاندې ولېږې خپل سامان مکې ته او ته پاته شې په منی کې درمی دپاره ، بیا دمحصب لورته ولاړ شه ، او طواف صدر وکړه اوه شوطه ، او دا واجب دی مګر نه په اهل مکه باندې ، بیا دزمزم او به وڅښه او ونښله له ملتزم سره او دکعبې پردې ونیسه او ځان ونښلوه له دیوال سره.

تشريح: (۶۹)ليکن که په څلورمه ورځ (يعني ديارلسم ذوالحجه)له زوال څخه وړاندي جمرات ووېلې نوهم دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد جائزده مع الکراهة التنزيهة ځکه چې کله بالکل ترک جائزدی نو وروسته وړاند ي کول خوپه طريقه اولی سره جائزدی .البته په يولسم اودولسم تاريخ رمی له زوال څخه وړاندي جائزنه ده ځکه چې په دي دووورځوکې ترک رمی جائزنه ده نوتقديم هم جائزنه ده،مګرد صاحبينوپه نزدپه څلورمه ورځ هم رمی له زوال څخه وړاندي جائزنه ده هغوئ يې په داونورو ورځو قياسوي.

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی کمافی الدرالمختار:وان قدم رمی فيه ای فی اليوم الرابع علی الزوال جاز قال ابن عابدين :(قوله جاز)ای صح عندالامام استحسانامع الکراهة التنزيهية وقالا لايصح اعتبار بسائر الايام (الدرالمختارمع الشامية:۲/۲۰۰)

(۷۰)دکومې رمی څخه وروسته چې رمی وي لکه دجمره اولی اوجمره وسطی رمی نوداپياده افضل اومستحب ده ځکه چې مروی ده چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه په دعيدالاضحی په ورځ جمره عقبه دسورتياپه حال اوباقی دوه پياده ويښتلې اودا خبربه يې ورکاووچې نبی کريم ﷺ په دي شان سره رمی کوله ،همدارازله دي وروسته به دريږي نوکه دسورتياپه حالت کې رمی وکړی نودابه ددريدونکودپاره تکليف وي .اودکومې رمی څخه وروسته چې رمی نشته لکه داخترپه ورځ دجمره عقبه رمی اواخري رمی په باقی دريوورځوکې نودادسورتيابه حالت کې افضل دي.

ف:دځينوحضراتورايه داده چې په دي زمانه کې پياده رمی کول ښه دي ولی چې داتضرع اوتواضع ته ډيرقريب ده، دمصنف رحمه الله عبارت ماشياوالاراکباحال دی دفارم له ضميرمستترڅخه ای فارم حال کونک ماشياوالافارم حال کونک راکبا.

ف:ابراهيم ابن الجراح فرمايي چې زه دحضرت امام ابويوسف رحمه الله خواته په هغه وخت کې ورغلم چې پرده بي هوشې راغلي وه بياپه هوش کې راغی زه چې وليدم ويې ويل ای ابراهيم ستاڅه رأيه ده چې حاجی به رمی جمرات پياده کوي اوکه دسورتياپه حال کې ،ماوويل :پياده ،ده وفرمايل: صحيح نه ده ، ماوويل :دسورتياپه حالت کې ،ده وفرمايل :داهم صحيح نه ده ،ماوويل :نوامام صاحب څه فرمايې ؟ ده وفرمايل :له کومې رمی څخه وروسته چې رمي وي هغه دي پياده وشي اوله کومې رمی څخه وروسته چې رمی نه وي هغه دي دسورتياپه حالت کې وشي ،بيازه دده خواڅخه ولاړم له راوتلوسره سم ما دخلګودژړاوو اوازونه واوريدل اوماته وويل شول چې امام صاحب له دارفانی څخه رخصت شوما په داسې حال کې دده په حرص علم باندي ډيرتعجب وکړ.

(۷۱)مکرودامکروه ده چې په دي ورځوکې په خپله خوپه منی کې درمی جمرات دپاره پاته شې اوخپل سامان مکې ته وليږدوي ولی چې مروی ده چې حضرت عمر رضي الله عنه له دي څخه منع کوله اوچاچې به داشان کول هغه ته به يې تنبيه ورکوله، همدارازشان دسامان په ليږدولوکې فارغ البالی نه راځي بلکه زړه به يې ذوري مشغول وي.

ف:که کوم کس درمی په شپوکې شپه په منی کې تيره نه کړي نودامام شافعی رحمه الله په نزدڅرنګه چې شپه په منی کې تيرول واجب ده په دي وجه پردي کس دم لازميږي .زموږپه نزدپه منی کې شپه تيرول سنت ده لهذاپرده دم نه لازميږي زموږدليل دادی چې په منی کې شپه تيرول بنفسه مقصودنه ده بلکه په دي وجه چې

په راتلونکې ورځ کې ده ته رمی اسانه وي لهذا ثابته شوه چې په منی کې شپه تیرول د حج له افعالو څخه نه ده نو ددې په ترک سره به هیڅ هم نه واجبیږي.

(۷۲)قوله ثم الی المحصب ای ثم رح من منی الی المحصب ،یعنی کله چې له رمی جمرات څخه فارغ شي نومکې مکرمې ته دراتلوپه حال کې دي په محصب (بضم المیم وتشدید الصاد دتفعیل له باب څخه داسم مفعول پروزن دی یعنی وادی ابطح کومې ته چې وادی بطحاء او خیف بنی کنانه هم ویل کیږي) کې کښته شي دلته کښته کیدل سنت دي ولی چې نبی کریم ﷺ قصدا دلته کښته شوی وو.

ف:پرمحصب دکښته کیدلو اصل وجه داده چې نبی کریم ﷺ چې کله په شروع شروع کې مشرکین قریشو ته دعوت توحید ورکړنوهغوئ په دي ځای کې له بنوهاشم اوبنوالمطلب سره دهرقسم تعلقاتوپر قطع کولوباندي قسمونه وخوړل اوپردي یې عهدنامه ولیکله اوپه کعبة الله کې یې راوځړوله په کومه چې قسم قسم باطلې اودکفرخبري وي ،نو ابوطالب مسلمانان اودبنوهاشم خاندان له ځان سره بوتلل اوپه شعب ابوطالب کې یې اوسیدل شروع کړل دري کاله بعدنبی کریم ﷺ ته معلومه شوه چې عهدنامه چنجیانوخوړلې ده ماسوا له هغوځایونوچې په هغه کې دالله تعالی ذکرشوی دی نبی کریم ﷺ ابوطالب ته خبرورکړابوطالب قریش پري خبرکړل هغوئ ولیدل چې وقعی همداسې شوي وو ،بیاله فتح مکې څخه وروسته نبی کریم ﷺ دخپل حج په موقع قصدادلته کښته شوی وو اومقصداداوو چې مشرکینوته دالله ﷻ کاریګري ورښکاره کړي چې پرون تاسې پردي ځای څه عهداوپیمان سره کاوو اونن څه صورت حال دی لهذا اوس دلته کښته کیدل سنت دي.

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدنزول محصب سنت نه ده ځکه چې حضرت عائشه رضی الله عنها اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایې چې نزول محصب سنت نه ده ځکه چې نبی کریم ﷺ په دي وجه سره دلته نزول فرمایلی وو چې دلته دمدینې منورې لورته وتل اسان دي دنسک په نیت سره نه وکښته شوی .زموږدلیل دادی چې نبی کریم ﷺ یوه ورځ وړاندي فرمایلې وو چې موږصباپه خیف بنوکنانه کې کښته کیدونکي یوچیرته چې قریشوپه خپل کفرقسمونه خوړلي وو ،له دي څخه معلومه شوه چې نبی کریم ﷺ دلته قصدانزول کړی وو په دي وجه سره دلته کښته کیدل سنت دی.

(۷۳)اوس که یې بیرته دخپل اهل طرف ته دتللواراده وي نوبلارمل اوسعی دي دبیت الله اووه شوطه طواف وکړي (په دي شرط چې دارمل اوسعی ده په طواف قدوم یاطواف زیارت کې کړي وي که نه نو دلته به یې کوي)ځکه چې دنبی کریم ﷺ ارشاددی چې کوم شخص چې دبیت الله حج وکړي نو دهغه اخری عهدله دي بیت سره طواف وي ،دي طواف ته طواف وداع اوطواف اخرعهدبالبیت هم ویل کیږي دارخصتی طواف دی.

(۷۴)داطواف صرف په افاقیانو واجب دی په مکه مکرمه اوپه میقاتونوکې په اوسیدونکو باندي نشته ځکه چې داخلک نه له بیت الله څخه ځي اونه بیت الله پریږدي لهذا پردوئ دارخصتی طواف واجب نه دی بلکه ددوئ دپاره داطواف مستحب دی کمافی شرح التنویر:(وهوواجب الاعلی اهل مکة)ومن فی حکمهم فلایجب بل یندب الخ(الدرالمختارعلی الشامیة:۲/۲۰۲)

(۷۵)بیاله طواف څخه چې فارغ شې نو بیرزمزم ته دې راشې اوله څاه څخه دې په خپله اوبه راوکاږي اوودې څښي اوپاتې اوبه دې په خپل سرتوی کړي ،دماء زمزم فضلیت په متعددورواياتوسره ثابت دی حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي چې دزمزم اوبه دڅمکې دمخ له ټولواوبوڅخه افضل دي اوحضرت جابربن عبدالله ﷺ فرمايي ﴿ سمعت رسول الله ﷺ ماءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَه ﴾ (دزمزم اوبه چې دکوم مقصدد پاره وڅښل شي دهغه دپاره کفایت کوي).

دزمزم اوبو دڅښلو آداب

ف:دعلماؤله يوجماعت څخه مروی ده چې هغوئ دخپلوخپلومقاصدودحصول په نيت سره دزمزم اوبه وڅښلې اوهغه مقاصدېي حاصل کړل ،حضرت ابن عباس ﷺ دزمزم داوبو دڅښلوپروخت دادعاء ويله اللهم انی اسئلک علمانافعاورزقاواسعاوشفاءمن کل داء.

ف:دزمزم دڅښلوله ادابوڅخه داده چې دکعبې طرف ته په مخ کړڅولوسره په نبی لاس سره په دریوساه گانوسره وڅښل شي اودهرځل په پیل کې دبسم الله ووايي اوپه ساه اخيستلودي الحمدلله ووايي اومزم دې بنه ډيري وڅښي كماقال ابن عباس ﷺ :اذاشربت منهافاستقبل القبلة واذكر اسم الله وتنفس ثلاثاوتضلع منهافاذافرغت منهافاحمدالله فان رسول الله ﷺ قال: آية بينناوبين المنافقين انهم لايتضلعون من زمزم،(كذافي ردالمحتار: ۲/۲۰۳)

ف:ترکومه چې په ولاړه سره دزمزم دڅښلوخبره ده نودولاړي په حالت کې داوبودڅښلوله ممانعت سره دمتعلقه رواياتوتقاضاخوداده چې زمزم هم په ولاړه سره څښل ممنوع يامکروه دي مګردزمزم اوبه په ولاړه سره څښل مختلف فيه دي راجح داده چې په ولاړه سره دزمزم اوبه څښل بلاکراهته جائزدي مګرمستحب نه ده كمافي الشامية:والحاصل ان انتفاء الكراهة في الشرب قائمافي هذين الموضعين محل كلام فضلاعن استحباب القيام فيهماولعل الاوجه عدم الكراهة ان لم نقل بالاستحباب (ردالمحتار:۹٦/۱).ليکن دعلامه شامي درأی برعکس حضرت شيخ الحديث مولانامحمدزکرياصاحب رحمه الله په خصائل نبوی شرح شمائل ترمذی کې فرمايي چې دعلماؤمشهورقول دادی چې زمزم په دي نهی (په ولاړه سره داوبوڅښلو ممانعت)کې داخل نه دي په ولاړه سره ددي څښل افضل دي.

له دي څخه وروسته دي له ملتزم سره ونښلي يعنی خپل مخ اوسينه دي دژړاپه حال کې پرملتزم ولګوي ، ملتزم دخانه کعبې اوحجراسودپه منځ کې ديوځای نوم دی .اودخانه کعبې له پردوسره دی ونښلي اودخانه کعبې له ديوالونوسره دي ونښلي ودي ژاړي اوپه خشوع اوعاجزي سره دي الله تعالی ته دعاء وکړي مثلاداسې دعاء دي وکړي اَللّٰهُمَّ هٰذا بَيْتُكَ الَّذِي جَعَلْتَه مَبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِيْنَ اَللّٰهُمَّ كَمَا هَدَيْتَنِي لَه فَتَقَبَّلْهُ مِنِّي وَلَا تَجْعَلْ هٰذَا آخِرَ الْعَهْدِ مِنْ بَيْتِكَ وَارْزُقْنِي الْعَوْدَ إِلَيْهِ حَتّٰى تَرْضٰى عَنِّي بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ،له دي څخه وروسته دي دبيت الله پرفراق په غم کولواوافسوس کولوسره کورته راستون شي.

دروضه اقدس ﷺ دزيارت بيان

فائده امام ابوداؤد رحمه الله دكتاب الحج په اخركې باب في اتيان المدينة قائم فرمايلې دى داپه دي وجه سره چې په حديث شريف كې راغلي دي﴿ من حج البيت ولم يزرني فقد جفاني ﴾ (يعنى كوم كس چې حج وكړي اومادزيارت دپاره مدينې منورې ته رانه شي نوهغه له ماسره جفاوكړه)،﴿ وقال ﷺ من زارقبري وجبت له شفاعتي ﴾(چاچې زمادقبرزيارت وكړنو دهغه لپاره زماشفاعت واجب شو).دنبی كريم ﷺ دقبردزيارت كولودپاره علماؤلاندينې اداب ليكلي دي چې دتللوپه حال كې دې په لاره كې په كثرت سره درودشريف وايي اوكله چې دمدينې منورې فصيل په نظرراشي نوله درودشريف سره دي دادعاء هم وكړي،اللهم هذاحرم نبيک فاجعله وقاية لي من النار واماناً من العذاب وسوء الحساب ،اوبيا داده چې مدينې منورې ته له داخليدلو څخه وړاندې غسل وكړي اوخوشبوئي ولگوي اوخپلې ښې جامې په تن كړي اومدينې منورې ته په عاجزۍ، سكون اووقارسره داخل شي اوكه موقع وه نوله منبرسره دې دوه ركعته دشكرانې نفل اداء كړي بيادي دنبی كريم ﷺ دسرمبارك طرف ته ده مخامخ په قبله له قبرمبارک څخه ددريوياڅلورو لاسونوپه فاصله كې ودريږي اودنبی كريم ﷺ دشكل مبارك تصوردي وكړي اوگوياپه خپل مرقدشريف كې بيده دی اودده خبرې اوري بيادي په ډول سره درودشريف ووايي ،السلام عليک يانبي الله ورحمة الله وبركاته ،اشهدانک رسول الله فقدبلغت الرسالة واديت الامانة ،اوازدي نه ډيرلوړوي اونه دي ډيركښته وي بياچې چاسلام رسولوورته ويلې وي دهغه لپاره دي داسې سلام وړاندي كړي ،السلام عليک يارسول الله من فلان بن فلان يستشفع بک الى ربک فاشفع له ولجميع المؤمنين.

فَصلٌ في المتفرقات

په دي فصل كې دڅه متفرقومسائلوذكردی كومې چې له وقوف عرفات ،احوال النساء ،احوال بدنه اوتقليدبدنه سره تعلق لري .

(۷۶)من لم يدخل مكة ووقف بعرفة سقط عنه طواف القدوم (۷۷)ومن وقف بعرفة ساعة من الزوال إلى فجر النحر فقدتم حجه (۷۸)ولوجاهلا اونائما اومغمى عليه (۷۹)ولو أهل عنه رفيقه بإغمائه جاز (۸۰)والمرأة كالرجل غير انها تكشف وجهها لارأسها (۸۱)ولاتلبي جهرا ولاترمل ولاتسعى بين الميلين ولاتحلق رأسها ولكن تقصر (۸۲)وتلبس المخيط

ترجمه :كوم كس چې داخل نه شومكې مكرمې ته اووقوف عرفات يې وكړنوساقطيږي له ده څخه طواف قدوم،اوكوم كس چې وقوف عرفات يوگړی وكړي له زوال شمس څخه دلسم تاريخ ترسهارپورې نوپوره شودده حج ،كه څه هم وقوف دجهل ياخوب په حالت يادبيهوشۍ په حالت كې وكړي ،اوكه چيرته احرام وتاړه دده له طرف څخه دده ملگري دده دبيهوشۍ په وجه سره نوصحيح دی ،دښځه دنارينه په څيرده ماسواله دي چې دابه مخ لڅوي نه سر،اوتلبيه به نه وايي په لوړاوازسره اورمل اوسعی بين الميلين به نه كوي اوحلق به نه كوي بلكه قصربه كوي ،اوپه تن كوي به گنډلې شوې جامه .

تشريح: (۷۶)يعنی كه چاله ميقات څخه احرام وتاړه اومكې مكرمې ته دتللوپرځای سيده عرفات ته ولاړی اووقوف عرفات يې وكړ(دوقوف عرفات طريقه له دي څخه وړاندې ذكرشوې ده)نودده له ذمې څخه طواف قدوم(كوم چې سنت دی)ساقطيږي ځكه چې طواف قدوم سنت دی له كوم څخه چې طواف زيارت كفايت

کوي ،اوپردي کس باندي دم یاصدقه هیڅ شی واجب نه دی ولی چې ده سنت طواف پریښی دی اودترک سنت په وجه سره هیڅ شی نه واجبیږي.

(۷۷)یعنی چاچې دنهم تاریخ له زوال څخه دیوم النحر(یعنی لسم تاریخ)ترسهارپوري وقوف عرفات وموند که څه هم دلږ وخت دپاره هم وي نودده حج پوره شو(مراددای چې فرض وقوف اداء شول که نه نو ترغروب شمس پوري په عرفات کې دریدل واجب دي).اویوګړی دریدل په دي وجه سره کافی دي چې دنبی کریم ﷺ ارشاد دی﴿الحج عرفة فمن وقف بعرفة ساعة من لیل اونهار فقد تم حجه﴾ (حج دعرفه نوم دی نوکه چاوقوف عرفات وکړیوګړی په شپه کې یاپه ورځ کې نودده حج تام شو).بیاابتداء دوخت په خپله دنبی کریم ﷺ له فعل څخه ثابته ده چې نبی کریم ﷺ له زوال څخه وروسته وقوف وکړاوانتهاء وخت دنبی کریم ﷺ له قول څخه ثابته ده فرمایي : ﴿من أدرک عرفة بلیل فقد أدرک الحج ومن فاته عرفة بلیل فقد فاته الحج﴾ (یعنی چاکه عرفه په شپه کې وموندله نوحج وموندی اوچاکه په شپه کې هم عرفه ونه موندله نودده حج فوت شو)په دي حدیث شریف کې داخروخت بیان فرمایلی دی ،اودحج له تام والی څخه مراددادی چې اوس دده حج له فساد څخه محفوظ شو ،که نه نو دحج یورکن طواف زیارت خولاپاته دی.

(۷۸)قوله ولو جاهلا او نائما او مغمی علیه ای ولو کان الواقف جاهلا انها عرفات او نائما او مغمی علیه ،یعنی که کوم کس چې عرفات نه پیژني یادخوب په حالت کې یادبیهوشي په حالت کې پرعرفات تیرشونوداهم له وقوف عرفات څخه کفایت کوي ځکه چې رکن یعنی وقوف عرفات موجودشو ،همدارازحدیث شریف ،الحج عرفة الخ ،مطلق دی په دي کې داتفصیل نشته چې هغه به وقوف عرفات پیژني لهذا صرف عرفات حاضریدل ضروري دي.

(۷۹)اوپرچاچې بیهوشي طاری شوه که دده دبې هوشي په وجه سره دده له طرفه دده ملګري احرام وتاړه نوبیاهم دده حج کیږي دادامام ابوحنیفه رحمه الله قول دی ،حال داچې صاحبین رحمهما الله تعالی فرمایي چې ددی کس حج ونه شوځکه چې احرام شرط دی اوده خونه په خپله احرام وتاړه اونه یې څوک په حکم کولوسره نائب جوړکړ.دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې ده له خپلوملګروسره دملګرتیاپه عقدکولوسره له هریوه څخه په هغه کارکې دمرستې غوښتنه وکړه له کوم څخه چې دی په خپله عاجزوي اوددي سفرمقصداحرام دی له کوم څخه چې دی عاجزشونوپه دي کې خوطلب استعانت په اولی درجه سره متحقق شولهذادده له طرفه دملګرودنیابت دلالة اجازه متحققه شوه په دي وجه سره دده له طرفه څخه چې دده ملګري کوم احرام تړلی دی هغه صحیح دی اودده حج کیږي ،دامام صاحب قول راجح دی لمافی الهندیة:ومن اغمی علیه فأهل عنه رفقاله جازعندابی حنیفة(هندیه:۱/۲۳۵)

ف:دبې هوش کس له طرف څخه داحرام تړلومطلب دادی چې دخپل احرام تړلوسره دبې هوش ملګري له طرف څخه هم داحرام نیت وکړي اوتلبیه ووایي دامرادنه ده چې دده څخه جامې وباسي اوده ته ازار ورواغوندي ځکه چې داعین احرام نه دی بلکه داحرام له ځینومحظوراتوڅخه ساتنه ده کمافی الشامیة:ومعنی الاهلال عنه ان ینوی عنه ویلبی فیصیرالمغمی علیه محرما بذالک لانتقال احرام الرفیق الیه ولیس معناه ان یجرده وان یلبسه الازارلان هذاکف عن بعض محظورات الاحرام لاعین الاحرام لمامر(ردالمحتار:۲/۲۰۳)

ف:که دحج په رفقاؤکې يو هغه بل ته وويل چې که زه بې هوښه شوم نوزماله طرفه ته په احرام تړلوکې زماناٸب يې نوکه اوس که داسې صورت پيښ شونوبالاتفاق دده دملګري دده له طرفه احرام تړل کفايت کوي کمافي كشف الحقائق:وبأمره جازبالاجماع (كشف: ١٣٧/١)

دښځې داحرام بيان

(۸۰)ښځه په ذکرشويوټولواحکاموکې دنارينه په څيرده څکه چې شرعي احکام دنراوښځې دواړه لپاره دي ترڅوچې دښځې دخصوصي حکم دليل موجودنه وي ،البته سردي نه لڅوي ولې چې دښځې سرپه سترکې داخل دی اودسترلڅول جائزنه دی ،هومخ دي لڅ کړي ﴿لقوله ﷺ احرام المرأة في وجهها﴾ (دښځې احرام دري په مخ کې دی).

ف:مګردمخ له لڅولوڅخه مرادادادی چې په مخ دي کوم داسې ټوکراوڅروي چې په مخ باندي ونه نښلي اوپرده حاصله شي مثلا سائبان لرونکي خولۍ دي پرسرکښيږدي اوپه هغه بالادي برقع په سرکړي نوپه دي صورت کې په مخ باندي ټوکرنه لګيږي همداشان دام المؤمنين حضرت عائشي رضي الله عنها فعل مروی دی کمافي نهرالفائق :اخرجه ابوداؤدمن حديث عائشة أنها قالت كان الرُّكبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مع رسول الله صلى الله عليه وسلم مُحْرِمَاتٌ فإذا حَاذَوْنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا على وَجْهِهَا فإذا جَاوَزُونَا كَشَفْنَا ،قالوا:ويستحب ان تجعل على راسهاشيئاوتجافيه ،وقدجعلوالذالك اعواداكالقبة توضع على الوجه ويسدل فوقهاودلت المسألة والحديث على الهامنهية عن ابداء وجههاللاجانب بلاضرورة (النهر الفائق ١٠٩/٢:)

(۸۱)ښځه دي تلبيه په لوړاوازسره نه وايي ولې چې داصح قول مطابق که څه هم دښځې اوازپه سترکې داخل نه دی مګرپه دي کې فتنه ضرورشته په دي وجه دي تلبيه په لوړاوازسره نه وايي . همداشان دي په طواف کې رمل نه کوي .اودميلين اخضرين په منځ کې دي سعی نه کوي ولې چې دا دسترعورت دپاره مخل دی .اوسردي نه خريي بلکه قصردي وکړي ولې چې دښځوپه حق کې دسرخريل مثله(تغيرلخلق الله)دی کوم چې حرام دی اودنبی کريم ﷺ ارشاددی ، ﴿ ليس على النساء الحلق انما على النساء التقصير ﴾ (په ښځودسرخريل نشته بلکه دښځودپاره دقصرحکم دی).

(۸۲)همداشان ښځه ګنډل شوي جامه په تن کولی شي ولې چې په ګنډل شوي جامه ددي لپاره سترپوښي ډيره ده اوپه صرف ازاراورداء کې دکشف عورت خطره ده .

ف:ښځه دي دنارينوپه موجودګی کې استلام حجرنه کوی څکه چې ښځې لره دنارينه ومس کول ممنوع دي ،خنثی مشکل احتياطاپه مذکوره بالااموروکې دښځې په څيردی ،همداراز ښځه دحيض اونفاس په وجه سره طواف صدرپريښودلی شي اوطواف زيارت له ايام نحرڅخه مؤخرکولی شي کمافي شرح التنوير:(ولاتقرب الحجرفي الزحام)لمنعهامن مماسة الرجال (والخنثى المشكل كالمرأة فيماذكر)احتياطا(وحيضهالايمنع-) نسكا(الاالطواف)ولاشئ عليهابتاخيره الالم تطهرالابعدايام النحرفلوطهرتفيهابقدراكثرالطواف لزمهاالدم بتاخيره لباب (وهوبعدحصول ركنيه يسقط طواف الصدر)ومثله النفاس (الدرالمختار: ٢٠٦/٢)

په حج اورمضان کې دحيض دبندلودواپانواستعمال

سوال: دلته په برطانيه کې دماهوارۍ (حيض) دبندولوګولیانې پيداکيږي ځينې ښځې په رمضان المبارک اوايام حج کې دا استعمالوي ترڅوروژه قضاء نشي اودحج ټول احکام اداء کړای شي نوپه دې نيت سره ددې ګوليانواستعمال جائزدی اوکه يا؟بينواتوجروا.

ځواب: ماهواری (حيض) فطری شی دی ددې په درلوسره په صحت باندې دبداثردپريوتلوخطره ده په دې وجه سره دې په رمضان کې ګولۍ نه استعمالوي وروسته دې دروزوقضار راوړي ،په حج کې يې هم استعمالول په کارنه دي ،له طواف زيارت څخه ماسواټول افعال اداء کولی شې اوله حيض څخه له پاکيدلووروسته طواف زيارت هم کولی شې البته که وخت لږوو اودطواف زيارت وخت نه وو اوله کورنۍ سره دحکومت له طرف څخه دنوروخت دترلاسه کولوامکان نه وو نوداستعمال ګنجائش شته مګرپه صحت باندې دبداثردپريوتلوخطره شته اوددې مشاهده هم ده په دې وجه يې حتی الامکان بايداستعمال نه کړي ،مګرداچې بالکل مجبوره شي،فقط والله اعلم (فتاوی رحيميه :۱۳۶/۸)خلاصه داچې قباحت په طبی لحاظ سره ده که نه نو دشريعت له طرف څخه څه ممانعت نشته .

(۸۳)وَمَنْ قَلَّدَ بَدَنَةَ تَطَوُّعٍ اَوْ نَذْرٍ اَوْ جَزَاءَ صَيْدٍ اَوْ نَحْوَهُ فَتَوَجَّهَ مَعَهَا يُرِيْدُ الْحَجَّ فَقَدْ اَحْرَمَ (۸۴)فَاِنْ بَعَثَ بِهَا ثُمَّ تَوَجَّهَ اِلَيْهَا لَا يَصِيْرُ مُحْرِمًا حَتّٰى يَلْحَقَهَا (۸۵)اِلَّا فِيْ بَدَنَةِ الْمُتْعَةِ (۸۶)فَاِنْ جَلَّلَهَا اَوْ اَشْعَرَهَا اَوْ قَلَّدَ شَاةً لَمْ يَكُنْ مُحْرِمًا (۸۷)وَالْبُدْنُ مِنَ الْاِبِلِ وَالْبَقَرِ

ترجمه: اوچاچې قلاده وځړوله دقربانې په غاړه کې خواه که قربانې نفل وي يانذری وي ياجزاء صيد وغيره وي اوروان شوله هغې سره دحج په اراده نوهغه محرم شو ،اوکه يې قرباني وړاندې روانه کړه بيادی روان شونومحرم نه شوترڅوچې له هغې سره يوځای شي ،مګردحج تمتع په قرباني کې ،اوکه يې ځل واچاوه په قربانۍ باندې يايې اشعاروکړيايې قلاده وځړوله دپسه په غاړه کې نومحرم نه ګرځي ،اوبدنه داوښ اوغوايې معتبره ده .

تشريح: (۸۳)که چادبدنې (دقربانې څاروی ،اوښ ياغواکومه چې په مکه مکرمه کې قرباني کيږي)په غاړه کې قلاده وځړوله خواه که هغه بدنه نفلي وي يادنذروي يادښکارمړکولوبدله وي (مثلاله دې څخه وړاندې ده په حرم کې ښکارقتل کړی وي)ياهغه کوم چې ددې په شان وي مثلادحج تمتع ياقران بدنه وي اوله دې سره دحج په اراده په خپله هم روان شونودده احرام وتړل شويعنی دلبيک ويلوبغيرصرف په دې عمل (مرادتقليد ،توجه اواراده حج ده)سره دی محرم شوولی چې دادحاجې دلبيک ويلوقائم مقام ګرځي په دې وجه چې دلبيک ويلوڅخه مقصودداوي چې دحج کولوپخه اراده ظاهره کړي اودامقصوددبدنې په غاړه کې په قلاده اچولواوله ځان سره په روانولوهم حاصليږي .

(۸۴)اوکه چادبدنې په غاړه کې قلاده واچوله اووړاندې يې وليږله وروسته دی هم روان شونوصرف په تګ کولوسره محرم نه ګرځي ترڅوچې دی له خپلې بدنې سره يوځای نشې ولی چې ترڅوچې څاروی له ده سره نه وي نوداصرف دحج نيت کول دي اوپه صرف نيت کولوسره څوک محرم نه ګرځي بلکه ضروري داده چې ياخوتلبيه ووايي يابدنه له ځان سره روانه کړي ،نوکه داشخص ميقات ته ورسيدی

مګرتراوسه له خپلې بدنې سره نه ده يوځای شوی نوپرده لازمه ده چې له ميقات څخه په تلبيه ويلوسره احرام وتړي.

(۸۵)البته دحج تمتع دبدنې داحکم نه دی بلکه دهغې حکم دادی چې څرنګه چې حاجې له دي وروسته په نيت کولوسره روان شې نواستحسانامحرم ګرځې له بدنې سره يوځای کيدل شرط نه دي، دقياس تقاضاخودلته هم داده چې په صرف تګ سره محرم نه شې ليکن موږداستحسان په وجه سره قياس ترک کړی دی داستحسان وجه داده چې هدی تمتع شريعت ابتداء له مناسک اوافعال حج څخه يو فعل مقررا ومشروع کړی دی ځکه چې داهدی په مکه مکرمه پسې مختصه ده اوددوعبادتونوپه يو ځای اداء کولوپه وجه بطورشکرواجب شوي ده حال داچې له هدی تطوع علاوه دجنايت وغيره په وجه سره چې کومه هدی واجب ده هغه دمکې له خصوصياتو څخه نه ده نودهمدې فرق په وجه سره دتمتع په هدی کې صرف روانيدل کافی دي له هدی سره ديوځای کيدلويايوځای روانيدلوشرط پاتې شوی دی.

ف:مګرپه تمتع کې هم داشرط ده چې بدنې ته قلاده وراچول اووروسته ددې په شاپسې په روانيدلوکې صرف په هغه صورت کې محرم شمارل کيږي چې تقليداوتوجه په اشهرحج کې وي که نه نو په غيراشهرحج کې صرف په تقليداوتوجه سره محرم نه ګرځې ترڅوچې له هدی سره يوځای روان نه شې ولی چې له اشهرحج څخه وړاندې دتمتع اعتبارنشته اوکله چې دتمتع اعتبارنشته نوداکس متمتع نه شمارل کيږي لهذاده ته دارعايت هم نشې ورکول کيدلی.

(۸۶)که چاپربدنه باندې ځل واچاوه يايې اشعاروکړ(يعنی دهدی داوښ دکوهان په کيڼ طرف کې زخم لګول ترڅوچې دامعلومه شې چې دادهدی اوښ دی)يايې دپسه په غاړه کې قلاده وتړله نوپه دې سره محرم نه ګرځې ولی چې داامور دحج له خصائصو څخه نه دي په دې وجه چې جهول دګرمې اويخنې ددفع کولودپاره وي اواشعارامام ابوحنيفه رحمه الله دخپلې زمانې اشعارمکروه ګڼې لهذاداله مناسکو څخه نه دي دصاحبينوپه نزدکه څه هم حسن ده مګرداکله کله دعلاج اومعالجې لپاره هم کيږي، اودپسه په غاړه کې قلادة تړل غيرمعتاددي اوسنت هم نه ده لهذاله خصائص حج څخه دنه کيدلوپه اساس په دې سره محرم نه ګرځې.

(۸۷)اوبدنه په شريعت کې داوښ اوغوا معتبره ده .دامام شافعی رحمه الله په نزدبدنه صرف اوښ ته وايې غوابدنه نه ده دده دليل دحضرت جابر رضي الله عنه حديث دی چې ﴿نحرنا البدنة عن سبعة والبقرة عن سبعة﴾ (موږذبح کړاوښ داووکسانوله طرف څخه اوغواداووکسانوله طرف څخه)ګوره په دې روايت کې البقره په البدنه باندې عطف ده اوعطف دمغائرت تقاضاکوي لهذاغوابدنه نه ده .زموږدليل دادی چې بدنه شرعاًاولغةً اوښ اوغوادواړوته ويل کيږي جوهری فرمايي: البدنة ناقة اوبقرة اوابن الاثيرپه نهايه کې ليکي البدنة تقع على الجمل والناقة والبقرة اوعلامه نووي فرمای :وهوقول اكثراهل اللغة ولان البدنة ماخوذم من البدانة وهی الضخامة وقداشتركافيها اوحضرت جابر رضي الله عنه په حديث کې تصريح موجوده ده چې بدنه غواته هم شامله ده چنانچه فرمايي كانتحرالبدنة عن سبعة فقيل له والبقرة فقال وهل هي الامن البدنة (موږداووکسانوله طرف څخه بدنه ذبح کوله نوده ووبل شول چې دغوا څه حکم دی ده وفرمايل :چې غواخوهم بدنه ده).

باب القِرَان

داباب دقران په بیان کې دی

قران له قرن څخه دضرب اونصرله باب څخه راځي په لغت کې مطلقاجمع بین الشیئین ته ویل کیږي اوشرعاًپه یوه سفرکې دحج اوعمري احرام اوافعال جمع کولوته قران ویل کیږي .

څرنګه چې حج افرادپه منزله دمفرددی ولی چې په افرادکې صرف دحج احرام وي اوقران په منزله دمرکب دی ولی چې په ده کې دعمري اوحج دوادړواحرام وي په دي وجه سره یې دحج افرادبیان ترحج قران مقدم کړ.

(۸۸)هو أفضل ثم التمتع ثم الإفراد (۸۹)وهو أن يهل بالعمرة والحج من الميقات ويقول اللهم إني أريد العمرة والحج فيسرهما لي وتقبلهما مني (۹۰)ويطوف ويسعى لها (۹۱)ثم يحج كما مر

ترجمه:حج قران افضل دی بیاتمتع بیاافراد ،اوحج قران دادی چې احرام وتړي له میقات څخه دحج اوعمري دواړو اووایي یاالله زه اراده کوم دحج اوعمري ته دااسان کړي زمالپاره اوقبول یې کړي له ما څخه ،اوطواف اوسعی دي وکړي دعمري دپاره ،بیادي حج وکړي په تیره شوي طریقه سره .

تشریح:(۸۸)حج پردري قسمه دی ،قران ،تمتع ،اوافراد .په یوه احرام سره دحج اوعمري اداء کولوته قران ویل کیږي اوپه یوه سفراودوواحرامونوسره دحج اوعمري اداء کولوته تمتع ویل کیږي اوپه یوه سفرکې صرف حج کولوته افرادویل کیږي.

داحنافوپه نزدحج قران افضل دی دحج ترباقي دواقسامویعنی حج افراداوحج تمتع څخه ولی چې دنبی کریم ﷺ ارشاددی ﴿ یاآل محمداهلوابحجة وعمرة معا﴾ (یعنی ای ال محمددحج اوعمري دواړو یوځای احرام وتړئ)،همدارازپه قران کې په یوه احرام سره دوه عبادتونه اداء کیږي نودادصوم مع الاعتکاف سره مشابه ده ،اواحرام هم ترډیروورځوپوري وي په کوم کې چې مشقت زیات دی په دي وجه سره قران افضل دی ،داحنافودصحیح قول مطابق حج تمتع افضل دی ترحج افرادولی چې دجمع بین العبادتین په وجه دقران سره مشابه ده که څه هم یوروایت له امام ابوحنیفه رحمه الله څخه داهم مروی دی چې افراداافضل دی .

دامام مالک رحمه الله په نزدحج تمتع افضل دی دده دلیل دادی چې الله تعالی په قران کریم کې په خپل دي ارشاد ﴿فمن تمتع بالعمرة الى الحج﴾ کې دحج تمتع ذکرکړی دی لهذاداداافضلیت دلیل دی .

دامام شافعی رحمه الله په نزدحج افرادافضل دی دده دلیل دادی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي ، القران رخصة،(یعنی قران رخصت دی)له دي څخه ښکاره داده چې دقران کولواجازه شته عزیمت افرادی نوڅرنګه چې له اجازت څخه عزیمت اولی دی لهذاحج افرادااولی دی .امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې داپه اصل کې نبی کریم ﷺ داهل جاهلیت دیوي عقیدي نفی کړي ده داهل جاهلیت عقیده داوه چې العمرة فی اشهر الحج الجر الفجور ،نوددي عقیدي دنفی دپاره نبی کریم ﷺ وفرمایل چې اوس دقران رخصت شته ،داهل جاهلیت عقیده باطله ده چې په اشهرحج کې عمره ګناه ده .

(۸۹)له دې ځایه مصنف رحمه الله دحج قران طریقه درشودل غواړي چې دحج قران طریقه داده چې له میقات څخه په یوه ځای دحج او عمري احرام وتړل شي ،داحرام دوورکعتونولمانځه څخه وروسته به داسې دعاء وکړي اللهم انی ارید الحج والعمرة فیسرهما لی وتقبلهما منی ،په ځینونسخوکې عمره مخته ذکرشوي ده نوځوذکردفعل سره مطابق وي ولی چې دعمري افعال دحج له افعالوڅخه مقدم دي البته زموږپه دې نسخه کې دحج ذکرمقدم دی نوداد باري تعالی په قول ﴿واتموا الحج والعمرة لله﴾ سره دتبرک حاصلولو دپاره دی .

(۹۰)اوس چې کله مکې مکرمې ته داخل شي نولومړی دي دعمري افعال اداء کړي په دې ډول سره چې دبیت الله اوه شوطه طواف دي وکړي په اولنیو دریو شوطونو کې دي رمل وکړي او په باقی څلورو کې دي په خپل هئیت پروقاراو سکون سره ځي ،بیادسعی بین الصفا والمروه وکړي دکوم چې طریقه وړاندې بیان شوې ده .په سعی کولو سره دعمري افعال مکمل کیږي لیکن له سعی وروسته دي حلق یا قصرنه کوي له دې وجهې چې احرام حج او افعال حج تر اوسه باقی دي حلق او قصرله احرام حج سره منافی دي .

(۹۱)له عمري څخه له فراغت وروسته دي اوس حج وکړي په هغه طریقه سره دکومې تفصیل چې دحج افرادپه بیان کې تیرشو یعنی دحج لپاره دي قدوم وکړي بیادې په اتم دذوالحجې منی بیا عرفات بیامزدلفه ،په لسم دذوالحجې دي منی ته په رسیدلو جمره عقبه وویلې او دم شکردي ذبح کړي کوم ته چې دم قران ویل کیږي بیادي طواف زیارت وکړي کمامر التفصیل.

ف:داحنافو په نزد په قران کې دعمري افعال جلاکول ضروري دي او دحج لپاره طواف او سعی جلادي ، حال داچې دامام شافعي او امام مالک په نزددحج او عمري لپاره یو طواف اویوه سعی ده ﴿لقوله ﷺ دخلت العمرة في الحج الی یوم القیامة﴾ (یعنی عمره په حج کې داخله شوه ترقیامت پورې)لهذا دحج لپاره شوی طواف او سعی دعمري دپاره هم کافی دي، زموږدلیل دادی چې صفی بن معبددوه طوافه اودوه سعی وکړي نوحضرت عمر رضی الله عنه ده ته وفرمایل ﴿هدیت لسنة نبیک صلی الله علیه وسلم﴾(تادخپل نبی دسنت لاره موندله)، همدارازدقران معنی داده چې یو عبادت له بل عبادت سره ضم کړای شي اودابه هله وي چې دهرعبادت افعال جلااداء کړي که نه نو داخو ضم نه دی بلکه تداخل دی ،ترکومه چې دامام شافعی رحمه الله دلیل دی نوددي مطلب دادی چې دعمري وخت دحج په وخت کې داخل شوله کوم څخه چې داهل جاهلیت دمذکوره بالاعقیدي نفی مقصود دی کمامر.

(۹۲)فإن طاف لهما طوافين وسعى سعيين جاز وأساء (۹۳)وإذا رمى يوم النحر ذبح شاة أو بدنة أو سبعها (۹۴)وصام العاجز عنه ثلاثة أيام آخرها يوم عرفة وسبعة إذا فرغ ولو بمكة (۹۵)فإن لم يصم إلى يوم النحر تعين الدم (۹۶)فإن لم يدخل مكة ووقف بعرفة فعليه دم لرفض العمرة وقضاؤها

ترجمه:اوکه یې طواف وکړ دواړه لپاره دوه طوافه او دوه سعی یې وکړي نو جائزده مکربده ده ،او کله چې رمی وکړي دقربانۍ په ورځ نوذبح دي کړي پسه یا اوښ یا دده او مه حصه ،او روژه دي ونیسي له دې څخه عاجزدي ورځې چې اخري ورځ به یې دعرفې ورځ وي او اوه ورځې کله چې فارغ شي که څه هم په مکه کې وي ،اوکه یې روژه ونه نیوله دقربانۍ تر ورځې پورې نو متعینه شوه قربانۍ ،او که داخل نه شو مکې ته او وقوف عرفات یې وکړنو پرده دم دي دعمري دپرېښودلو په وجه سره او دعمري قضاء ده .

تشریح: (۹۲)که قارن اول دحج اوعمري لپاره مسلسل دوه طوافه وکړل اوبيا يې دواړولپاره دوه سعی وکړي نودا جائزده ولی چې ده هغه عمل وکړکوم چې پرده واجب دی مګرداسې کول بدکاردی ولی چې ده دعمري په سعی کې تاخيروکړاودحج طواف يې مخته وکړ،ليکن دديې په وجه سره پرده هيڅ هم نه لازميږي.

(۹۳)په لسم دذوالحجې منی ته په رسيدلودي جمره عقبه وويلې اودم شکر(چې الله تعالی په يوه سفرکې ددوو عبادتونو دادا٠کولوتوفيق ورکړ)دی ذبح کړي کوم ته چې دم قران ويل کيږي ،دادم واجب دی ولی چې قران دتمتع په معنی دی اوذبح کول په تمتع کې منصوص عليه دي ،ددم قران په ذبح کولوسره حاجې له دواړواحرامونوڅخه ووځي ،دحج باقی اعمال يعنی طواف زيارت ،رمی جمرات اوطواف صدردې اداء کړی اوکورته دي ولاړشي ،دابايديادوساتل شي چې په دم کې که يې خوښه وي نوپسه دي ذبح کړي يااوښ ياغوايادي له دي دوو څخه ديوه اومه حصه واخلي.

ف:دامام مالک رحمه الله په نزدبدنه صرف له يوه نفرڅخه کفايت کوي داوونفرولـه طرفه کافی نه ده . داحنافودليل دحضرت جابر رضي الله عنه حديث دی فرمايي :چې موږله نبی کريم ﷺ سره حج اداء کړنوموږاوښ اوغويی داوونفرولـه طرف څخه ذبح کړ.

ف:داوښ ذبح کول له غوايي څخه افضل دی اوغويی له پسه څخه افضل دی اوپه غويی کې اشتراک له پسه څخه افضل دی په دي شرط چې دده دحصې قيمت دپسه له قيمت څخه زيات وي . كمافي الشامية:والجزور افضل من البقروالبقرافضل من الشاة كذافي الخانية وغيره لهرزادفي البحروالاشتراک في البقرافضل من الشاة اه وقيده في الشرنبلالية تبعاللوهبانية بمااذاکانت حصته من البقراكثرمن قيمة الشاة(ردالمحتار:۲/۲۰۹)

(۹۴)اوکه چيرته قارن له دم قران څخه عاجزوي يعنی له ده سره نه دم وي اونه دهغه قيمت نوپه ايام حج کې دي دري روژي ونيسي لقوله تعالى ﴿ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ ﴾(يعنی څوک چې هدی ونه مومي نوپرده دري روژي دحج په ايامو کې واجب دي)داايت مبارک که څه هم دتمتع په باره کې نازل شوی دی مګرځرنګه چې قران هم دتمتع په شان دی چې په يوه سفرکې ددووعبادتونو فائده حاصلوي لهذا دقران هم هغه حکم دی کوم چې دتمتع دی .اوروژي دي په دي دول سره ونيسي چې دريمه روژه دعرفات په ورځ وي يعنی له اوم ذوالحجه څخه شروع کول مستحب دي ولی چې روژه نيول ددم بدل دی لهذاپه دي اميدسره مؤخرکول مستحب دي چې په اخروخت کې ممکنه ده چې پرقربانۍ دي قدرت حاصل شي. نوداتاخيرافضل دی که نه نو دعرفات له ورځې څخه وړاندي اوپه متفرق دول سره يې هم نيولی شي ، اواوه روژي دله ايام تشريق څخه وروسته ونيسي لقوله تعالى ﴿ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ﴾ (يعنی اوه روژي کله چې تاسې واپس شئ).اودااوه روژي که يې خوښه وي په مکه کې دي ونيسي اوکه خوښه وي نوکورته له راتلووروسته دي ونيسي .

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدپه مکه مکرمه کې داروژي نيول جائزنه دي الاداچې حاجي دوري دمقيم کيدوقصدوکړي دی په سبعة اذرجعتم کې په لفظ درجعتم سره استدلال کوي چې ددي اووروژوپه باره کې حکم دادی چې کورته له تللووروسته دي ونيسي .موږوايوچې سبعة اذارجعتم په معنی د سبعة اذافرغتم من افعال الحج دی فراغ درجوع سبب دی نودا له قبيلې د اطلاق المسبب على السبب دی .

(٩٥)ليكن كه چاپه مذكوره بالاصورت كې له لسم دذوالحجې وړاندې درې روژې ونه نيولې نواوس دم قران متعين شوې اوس له قربانۍ څخه ماسوابله هيڅ چاره نشته ولې چې اصل خوقربانۍ ده دمجبورۍ په وجه سره داحكم دقربانۍ ددې بدل روژوته منتقل شوې دې اوبدل موصوف دې په ثلاثة ايام فى الحج سره اوس څرنګه چې داصفت پاتې نشونوحكم داصل طرف ته واپس شو.

ف:ليكن كه دې بياهم له دم څخه عاجزوو نودې دې احرام خلاص كړې اوحلال دې شې اوس پرده دوه دم واجب دې يودم قران اودوهم دم په دې وجه واجب دې چې دې دهدې دځاروې له ذبح كولوڅخه وړاندې حلال شوكمافى شرح التنوير:فلولم يقدرتحلل وعليه دمان ،قال ابن عابدين :(قوله وعليه دمان)اى دم التمتع ودم التحلل قبل اوانه (ردالمحتار:٢/٢١٠)

(٩٦)كه چاله ميقات څخه دعمرې اوحج احرام وتاړه مګربيايې دقران عمره پرېښودله اوسيده عرفات ته ولاړې نوده عمره پرېښوده لهذااوس دده حج حج افرادشوقران نه دې ولې چې اوس په دې دول سره عمره كول متعذردې چې په هغې دحج احكام بناء شې ،نودعمرې دپرېښودلوپه وجه سره دجبيرې په طورپرده دم لازم دې ولې چې عمره دشروع كولوپه وجه سره واجب شوه ځكه به نودترك واجب قضاء كوې،البته دده پرذمه دم قران نشته ولې چې په يوه سفركې ددووعبادتونواداء كولوتوفيق حاصل نه شو.

بَابُ التَّمَتُّعِ

داباب دتمتع په بيان كې دې

تمتع په لغت كې داتنفاع په معنى ده اوشرعاًعبارت ده عن الجمع بين احرام العمرة وافعالهاواحرام الحج وافعاله فى اشهرالحج من غيرالمام صحيح باهله (يعنى له المام صحيح څخه بغيردحج اوعمرې احرام اوافعال په اشهرحج كې جمع كولوته حج تمتع ويل كيږي).

ف:المام الصحيح دشيخينوپه نزدداده چې عمره اداء كړې په حرم كې سروخرېې خپل ځان حلال كړې اوكورته راشې (داپه هغه متمتع كې ده كوم چې له ځان سره هدى نه وې بيولې اوكه ده له ځان سره هدى بيولې وه نوكه هغه كه څه هم وطن ته راشې بيابه هم دده المام صحيح نه وى)اودامام محمد رحمه الله په نزدخپل ځان حلالول دالمام صحيح دپاره ضروري نه ده.

ف:دشيخينوقول راجح دى كمافى الدرالمختار:لم يعدعمرته عادالى بلده وحلق فقدالم الماماصحيحاابطل تمتعه ومع سوقه تمتع كالقارن،قال ابن عابدين:(قوله مع سوقه تمتع)اى لايبطل تمتعه بعوده عندهماخلافالمحمد رحمه الله (الدرالمختارمع الشامية:٢/٢١٥)

دتمتع له قران سره مناسبت دادى چې په دواړوكې ددووعبادتونوجمع والى شته البته قران يې دقران دافضليت په وجه سره مخته ذكركړاودتمتع بيان يې مؤخركړ.

(٩٧)هوأن يحرم بعمرة من الميقات فيطوف لها ويسعى ويحلق او يقصر وقدحل منها ويقطع التلبية باول الطواف (٩٨)ثم يحرم بالحج يوم التروية من الحرم ويحج ويذبح فإن عجز فقدمر (٩٩)فإن صام ثلاثة أيام من شوال واعتمر لم يجزه عن الثلاثة وصح لو بعدما أحرم بها قبل أن يطوف (١٠٠)فإن أراد سوق الهدي أحرم وساق (١٠١)وقلده بمزادة او نعل ولا يشعر (١٠٢)ولا يتحلل بعد عمرته ويحرم بالحج يوم التروية (١٠٣)وقبله أحب فإذا حلق يوم النحر حل من احراميه

توجمه: حج تمتع داده چې احرام وتړي دعمري له میقات څخه او طواف وکړي دعمري لپاره او سعی وکړي او حلق وکړي یا قصر وکړي او حلال شو په دې سره او قطع دې کړي تلبیه په شروع دطواف کې ، بیا دې احرام وتړي دحج په اتم تاریخ له حرم څخه حج دې وکړي او ذبح دې وکړي بیا که عاجزوي نو دده حکم تیرشو ، او که دري روژې ونیسې په شوال کې بیا عمره وکړي نو دا کفایت نه کوي دتمتع له دریو روژو څخه او صحیح دا ده که دعمري له احرام څخه وروسته وي له طواف کولو څخه وړاندې ، نو که یې اراده وکړه دقرباني دبولو نو احرام دې وتړي او قرباني دې بوځي ، او قلاده دې وربه غاړه کې بدني ته دچمړې یا چپلې او اشعار دې نه کوي ، او نه دې حلالیږي له عمرې څخه وروسته او احرام دې وتړي دحج په اتم تاریخ ، او له دې څخه وړاندې بنده بیا چې کله سرو خریې په لسم تاریخ نو له خپلو دواړو احرامونو څخه حلال شو .

تشریح: (۹۷) مصنف رحمه الله دتمتع اصطلاحي تعریف بیان کړی دی چې تمتع دي ته وایې چې له میقات څخه دعمري احرام وتړي او دعمري دپاره دي طواف او سعی وکړي بیا دي حلق یا قصر وکړي او دعمري له احرام څخه دي حلال شي او تلبیه دي دطواف په شروع کې قطع کړي له دې څخه وروسته دي په اتم ذوالحجه له حرم شریف څخه دحج احرام وتړي او حج دي وکړي او قرباني دي ذبح کړي او که یې دقرباني څاروی ونه موندنو بیا دي روژې ونیسې دکوموچې تفصیل مخکې تیرشو .

ف: متمتع پر دوه قسمه دی -/نمبر ۱ . کوم چې بغیر له هدی حج ته ځي . /نمبر ۲ . کوم چې له ځان سره هدی بیایې . مصنف رحمه الله چې دتمتع کوم اصطلاحي تعریف بیان کړي دی دا دقسم اول تعریف دی . په دې دواړو کې دهریوه احکام جلا جلا دي کوم چې په راتلونکې بیانیږي .

ف: دمتمتع داولنی قسم (یعنی کوم چې له ځان سره هدی نه بیایې) طریقه داده چې کوم متمتع له ځان سره هدی نه بیایې نو هغه دي له میقات څخه صرف دعمري احرام وتړي او مکې مکرمې ته دي ولاړ شي او شوطه طواف دي وکړي په اولنیو دریو شوطونو کې درمل هم وکړي بیا دسعی بین الصفا والمروه وکړي له دې څخه وروسته دي حلق یا قصر وکړي نو دعمري له افعالو څخه حلال شو همدا شان نبی کریم ﷺ په عمره قضاء کې کړي وو . او څرنګه چې دعمري طواف شروع کړي یعنې دحجراسود استلام وکړي نو تلبیه دي قطع کړي ولې چې نبی کریم ﷺ په عمره قضاء کې تلبیه هغه وخت قطع کړه کوم وخت چې یې دحجراسود استلام وکړ .

ف: له امام مالک رحمه الله څخه یو روایت دادی چې څرنګه یې په مکه مکرمه باندې نظر ولګیږي نو تلبیه دي قطع کړي او دوهم روایت دادی چې کله دمکې بیوت ووینې نو تلبیه دي قطع کړي ، زموږ دلیل دحضرت ابن عباس رضي الله عنه روایت دی ﴿ أنه صلى الله عليه وسلم كان يمسك عن التلبية في العمرة إذا استلم الحجر ﴾ (چې نبی کریم ﷺ به عمره کې تلبیې څخه هغه وخت لاس اخیستو کوم وخت چې یې استلام حجر کاوو) .

(۹۸) دعمري دافعالو له اداء کولو څخه وروسته که دحج تر ایامو وخت وي نو په مکه مکرمه کې دي حلال اوسې بیا دي په اتم دذی الحجې یا له دي څخه وړاندې یا له دي څخه وروسته دعرفات تر ورځې پورې دحج احرام وتړي مګر له اتم تاریخ څخه وړاندې احرام تړل افضل دي لان فيه الرغبة في العبادة ، دحج د احرام په تړلو سره دي دحج افعال اداء کړي دکوم تفصیل چې دحج افراد په بیان کې تیرشو . البته دا کس به په طواف

زيارت کې رمل کوي اوله دي څخه وروسته به سعي بين الصفا والمروه کوي په خلاف دمفرد څرنګه چې هغه رمل اوسعی په طواف قدوم کې کړي دي په دي وجه په طواف زيارت کې دده لپاره درمل اوسعی حکم نشته .همدارازدي دم ذبح کړي ولی چې دمتمتع پرذمه دم تمتع لازم دي که دم ونه مونده نوددي حکم په باب القران کې تيرشوچې دري ورځې دي په ايام حج کې روژه ونيسي اواوه روژي دي له افعال حج څخه له فارغيدلووروسته ونيسي .

(۹۹)که حاجي په شوال کې يادحج دمياشتوپه کومه مياشت کې دري روژي ونيولي بيايې عمره وکړه نودادري روژي دتمتع دهغودريوروژوڅخه کفايت نه کوي دکوم حکم چې په ﴿ فمن لم يجد فصيام ثلاثة ايام فی الحج ﴾ کې شوی دی ولی په کوم وخت کې چې روژي نيسي په دي وخت کې سبب يعنی دعمري احرام موجودنه دی حال داچې داروژي دتمتع ددم په بدله کې نيول کيږي نوکله چې ده دعمري احرام نه ده تړلی نودی متمتع نه دی .اوکه دعمري له احرام څخه بعدله طواف څخه وړاندي دري روژي ونيسي نوداصحيح دي ولی چې سبب موجوددی .

ف:ددريوروژوپه شوال کې دنيولوقيداحترازي نه دی بلکه إتفاقي دی ولی چې دعمري له احرام څخه وړاندي په اشهرحج کې ددريوروژونيولوهم هماحکم دی ،مقصودادادی چې دعمري له احرام څخه وړاندي روژي معتبري نه دي خواه که هروخت وي کمافي الدر المختار:وجاز صوم الثلاثة بعد احرامها ای العمرة لکن في اشهر الحج،قال ابن عابدين:(قوله لكن في اشهر الحج)مرتبط بالصوم والاحرام فلو احرم قبلها وصام فيها لم يصح لانه لايلزم من صحة الاحرام بالعمرة قبل الاشهر صحة الصوم (الدر المختار مع الشامية:۲/۲۱۳)

(۱۰۰)له دي ځايه مصنف رحمه الله دمتمتع ددوهم قسم (کوم چې له ځان سره هدی بيولي وي) احکام بيانوي داقسم له اولنی قسم څخه افضل دی ولی چې نبی کريم ﷺ هدايا له ځان سره بيولي وي ، ددي طريقه داده چې ړومبی له ميقات څخه احرام وتړي بيا هدی وشړي ولاړشي مکې مکرمې ته په داخليدلوسره دعمري افعال اداء کړي ،اودعمري په افعالوسره نه حلاليږي حتی چې داتم په ورځ دحج احرام وتړي اودحج افعال اداء کړي بياځان حلال کړي ولی چې دحجة الوداع په موقع نبی کريم ﷺ هدی له ځان سره بيولي وه ورروسته يې وفرمايل چې که ماته له وړاندي څخه داخبره معلومه وای چې هدی بول له حلاليدلوڅخه مانع دی نومابه هدی له ځان سره نه وه بيولي ليکن څرنګه چې ماهدی له ځان سره راوستي ده په دي وجه زه نه حلاليږم ،نوله دي څخه معلومه شوه چې هدی بيونکې متمتع دعمري له افعالوڅخه وروسته نه حلاليږي .

(۱۰۱)دتمتع په دي قسم کې چې حاجي کومه بدنه يعنی اوښ ياغويی له ځان سره بيايې نوزړه چمړه ياڅپيل دي په غاړه وروځوی دادحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله مسلک دی ﴿ لحديث عائشة رضي الله عنها قالت كنت افتل القلائد لهدی رسول الله ﷺ ﴾(يعنی حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې مادنبی کريم ﷺ دهدی هاراوبدلی وو).اواشعاردي نه کوي ولی چې اشعارمکروه دی په دي وجه چې اشعارکول دځاروی مثله کول دي اومثله کول دحربي کافرلاهم ناجائزه ده نوچاته چې عقوبت ورکول جائزنه ده دهغه مثله کول به څرنګه جائزشي ؟

ف:اشعار په لغت کې زخمي کولو ته ترڅو وينه را وبهيږي ويل کيږي او اصطلاحي معنى يې داده چې داوښ دکوهان ښي طرف زخمي کړي ترڅو چې وينه راووځي بيا داوينه دده په کوهان باندې ولګول شي ، مګر ډيره ښه داده چې کيڼ طرف يې زخمي کړي ولې چې نبي کريم ﷺ کيڼ طرف قصدا او ښي طرف اتفاقا زخمي کړى وو او ظاهره ده چې کوم کار مقصود اوي هغه قابل اتباع ده كمافي نهر الفائق :وهولغة الجرح حتى يسيل منه الدم كماهو ظاهر كلام الجوهري وغيره وعرفا ضربها بالحربة في حدسنامها حتى يخرج منه الدم ليلطخ له سنامهاقيل في الجانب الايمن واختاره القدوري والاشبه بالصواب كونه في جانب الايسر (النهر الفائق:۲/۱۰۸)

ف:صاحبين رحمهما الله تعالى وايي چې دبدنې اشعاردې وکړي ولې چې داله نبي کريم ﷺ او خلفاء راشدينو ﷺ څخه مروى ده امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې اشعاردې نه کوي .دخلاف روايت کيدلوپه وجه سره دامام ابوحنيفه رحمه الله دقول داتاويل کړل شوى دى چې هغه دخپلې زمانې دخلګو لپاره اشعار مکروه ګرځولى وو ولې چې په دې زمانه کې خلګو په اشعار کې له حد څخه تجاوز کاوو له کوم څخه چې دزخم دسرايت کولو خطره وه كمافي الشامية:(قوله لان كل احدلايحسنه) جرى على ماقال الطحاوي والشيخ ابو منصور الماتريدي من ان اباحنيفه لم يكره اصل الاشعار وكيف يكرهه مع مااشتهر فيه من الاخبار والماكره اشعاراهل زمانه الذى يخاف منه الهلاک خصوصا في حرالحجاز فرأى الصواب حينئذ سدهذاالباب على العامة فامامن وقف على الحد بان قطع الجلددون اللحم فلاباس بذالک قال الكرماني وهذاهو الاصح وهواختيار قوام الدين وابن الهمام فهو مستحب لمن احسنه شرح اللباب (ردالمحتار:۲/۲۱۳)

ف:دا بايد ياد وساتل شي چې قلاده يا اشعار ددې لپاره کيږي ترڅو خلګو ته معلومه شي چې داهدى ده او داوبو په ګودر او په څرځايونو کې دې ته تعرض ونه کړي .

(۱۰۲)بيا چې کله متمتع مکې مکرمې ته داخل شي نو طواف او سعى دې وکړي او حلاليږي نه ترڅو چې په اتم تاريخ دحج احرام وتړي ،څرنګه چې متمتع له ځان سره څاروى بوتى دى کوم چې له حلال والي څخه مانع دى په دې وجه له افعال عمره څخه بعد به حلق نه کوي او نه به ګنډل شوي جامه په تن کوي او نه به خوشبو لګوي بلکه په احرام کې به اوسي او دوهم ځل به په اتم تاريخ دحج احرام وتړي دهغه متمتع په شان کوم چې هدى له ځان سره نه دبوتې .

(۱۰۳)قوله وقبله اى احرام التمتع قبل يوم التروية احب .يعنى که يې له اتم تاريخ څخه وړاندې احرام وتاړه نو جائزده بلکه افضل دى ولې چې په دې کې دعبادت طرف ته تلوار کول راځي .نو کله چې دى داختر په ورځ حلق وکړي نو له دواړو احرامونو څخه حلاليږي ،څرنګه چې ده دعمرې احرام نه وو خلاص کړى او دحج احرام يې تړلى وو په دې وجه سره په لسم تاريخ له دواړو احرامونو څخه حلاليږي ،بيا په حج کې حلق داسې دى لکه په لمانځه کې سلام ګرځول لهذا په حلق کولو سره له دواړو احرامونو څخه حلاليږي .

(۱۰۳)وَلَاتَمَتُّعَ وَلَاقِرَانَ لِمَكِّيٍّ وَمَنْ يَلِيهَا(۱۰۵)فَإِنْ عَادَ الْمُتَمَتِّعُ إِلَى بَلَدِهِ بَعْدَ الْعُمْرَةِ وَلَمْ يَسُقْ الْهَدْيَ بَطَلَ تَمَتُّعُهُ(۱۰۶)وَإِنْ سَاقَ لَا(۱۰۷)وَمَنْ طَافَ أَقَلَّ أَشْوَاطِ الْعُمْرَةِ قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ وَأَتَمَّهَا فِيهَا وَحَجَّ كَانَ مُتَمَتِّعًا(۱۰۸)وَبِعَكْسِهِ لَا(۱۰۹)وَهِيَ شَوَّالٌ وَذُو الْقَعْدَةِ وَعَشْرُ ذِي الْحِجَّةِ(۱۱۰)وَصَحَّ الْإِحْرَامُ بِهِ قَبْلَهَا وَكُرِهَ

ترجمه :او تمتع او قران نشته داهل مکې او هغې ته نژدې او سيدنکو دپاره .بيا که واپس راغى متمتع دخپل ښار طرف ته له عمرې څخه وروسته او هدى يې نه وبوتې نو باطليږي دده تمتع ،او که يې هدى له ځان سره

بوتې وه نو نه باطليږي ،او چاچې طواف وکړ دعمري لپاره له څلوروشوطونوڅخه لږ له اشهرحج څخه وړاندې او بيا يې پوره كړل په اشهر حج كې او حج يې وكړ نو متمتع ګرځي ،او ددې په عكس كې نه ګرځي ،او اشهرحج شوال او ذي قعده او د ذي الحجې لس ورځې دي ،او صحيح دی دحج احرام تړل له دې څخه وړاندې مګر مكروه دی.

تشريح:(۱۰۴)يعنې داهل مكې او په مواقيتو كې داوسيدونكو دپاره حج قران او تمتع نشته بلكه د دوئ دپاره صرف حج افراد مشروع دی ،تمتع خو د دوئ لپاره په دې وجه سره نه دمشروع چې دالله تعالى ارشاد دی ﴿ ذلك لِمَن لم يَكُن أَهلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾(يعنې دا دهغو خلكو دپاره دی كوم چې دمسجدحرام له حاضرينو څخه نه دي)د ذالک مشار اليه تمتع ده لهذا تمتع داهل مكه او په مواقيت كې داوسيدونكو دپاره مشروع نه ده .او د دوئ لپاره قران په دې وجه مشروع نه ده چې دقران په اداء كولو سره له دوو ممنوعه كارونو څخه ديوه ارتكاب كيږي په دې ډول سره چې كه هغه دحج او عمري دواړو لپاره له حرم څخه احرام وتړي نو دعمري په احرام كې خلل راځي ولې چې دعمري ميقات حل ده حرم نه ده. او كه له حل څخه دواړو احرام وتړي نو دحج په ميقات كې خلل راغى ولې چې دحج ميقات حرم دی حل نه دی .نو په اهل مكه او په مواقيتو په اوسيدونكو كې كه څوک قران وكړي نو ګناه ګاريږي او پرده دم لازميږي .

ف:دامام مالک رحمه الله په نزد له حرم څخه باهر په ميقاتونو كې داوسيدونكو دپاره تمتع مشروع ده ولې چې داخلک دمسجد حرام له حاضرينو څخه نه دي .احناف ځواب وركوي چې داخلک دحرم دخلكو په څير په ميقاتونو كې داوسيدولو په وجه سره دحرم له خلكو سره ملحق دي لهذا د دوئ هم هغه حكم دی كوم چې دحرم دخلكو دی ولی شرح التنوير:والمكي ومن فى حكمه اى من اهل داخل المواقيت يفرد فقط ولو قرن اوتمتع جازواساء وعليه دم جبر(الدرالمختار على هامش ردالمحتار:۲/۲۱۳)

(۱۰۵)كه دمتمتع لومړنى قسم (يعنې هغه متمتع كوم چې هدى له ځان سره نه ده بوتې) دعمري دافعالو له اداء كولو څخه وروسته كورته واپس راغى او په كور كې څه موده اقامت وكړ او بيرته ولاړ او دحج افعال يې اداء كړل نو دا متمتع نه دی ولې چې متمتع هغه دی كوم چې په يوه سفر كې دوه عبادتونه اداء كړي حال داچې ده خو په منځ كې المام صحيح (المام صحيح دشيخينو په نزد دادی چې له عمري كولو څخه وروسته په حرم كې په سرخرييلو سره ځان حلال كړي او كورته راشي دا هغه متمتع په حق كې ده كوم چې له ځان سره هدى نه وي بوتې او كه يې هدى بوتې وه نو هغه كه وطن ته راشي نو بيا هم دده المام صحيح نه دی)وكړ او په المام صحيح سره تمتع باطليږي .

(۱۰۶)قوله وان ساق الهدى لايبطل تمتعه ،يعنې كه يې هدى له ځان سره بيولي وي نو په منځ كې خپل كورته په راتلو سره دشيخينو په نزد دده حج تمتع نه باطليږي په دې وجه چې دده المام صحيح نه دی ولې چې كورته په راتلو سره هم دی محرم دی ترڅو چې دده له طرفه هدى ذبح نه كړل شي .حال داچې دامام محمد رحمه الله په نزد باطليږي ولې چې دده په نزد ځان حلالول د المام صحيح لپاره ضروري نه دی لهذا دالمام دصحيح والي په وجه سره دده حج تمتع باطل شو .

ف:دشیخینو قول راجح دی کمافی الدرالمختار:ثم بعدعمرته عادالی بلده وحلق فقدالم الماماصحیحاابطل تمتعه ومع سوقه لمتع کالقارن،قال ابن عابدین:(قوله ومع سوقه لمتع)ای لایبطل تمتعه بعوده عندهما خلافالمحمد (الدرالمختارمع الشامیة:۲/۵۱۲)

(۱۰۷)یعني چاچې له اشهرحج څخه وړاندي دعمري احرام وتاړه بیایې دعمري لپاره څلور شوطه طواف نه وکړی چې اشهرحج داخلې شوې ده باقي مانده طواف اوسعی په اشهرحج کې مکمل کړل بیایې په همدي کال دحج احرام وتاړه اوحج یې اداء کړنوداشخص متمتع دی پرده دتمتع دم واجب دي په دي وجه چې ده دعمري اکثرطواف په اشهرحج کې اداء کړو للاکثرحکم الکل نوګویاده دعمري ټول اعمال په اشهرحج کې اداء کړل.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزداحرام رکن دی لهذاپه اشهرحج کې داحرام نه وجودپه وجه سره داشخص متمتع نه شمارل کیږي .داحنافوپه نزد ځکه چې احرام شرط دی لهذا له اشهرحج څخه یې تقدیم جائزدی اوداحنافوپه نزددااعمالو اعتباردی چې دعمري افعال په اشهرحج کې وي.

(۱۰۸)قوله وبعکسه لاای لوطاف العمرة اربعة اشواط قبل الاشهرلم اتمهافیهالم یکن متمتعا،یعني که چاداشهرحج له دخول څخه وړاندي څلوریازیات شوطونه اداء کړل بیااشهرحج داخلې شوي نواوس که دی حج هم وکړي نوداشخص متمتع نه دی په دي وجه چې داکثرطواف له اشهرحج څخه وړاندي کړی دی نوګویا ټول اعمال عمره یې له اشهرحج څخه وړاندي اداء کړي دي لهذاداشخص متمتع نه دی ولې چې ده په اشهرحج کې حج اوعمره جمع نه کړل نه حقیقتااونه حکما.

(۱۰۹)له اشهرحج څخه مرادشوال ،ذی القعده اوذی الحجې لومړی لس ورځې دي همداشان له عبادله ثلاثه اوعبدالله ابن زبیر رضي الله عنه څخه مروی ده نوذالحجه لسم تاریخ په اشهرحج کې شمارده ولې چې ددرکن حج یعني طواف زیارت اول وخت دی اودکوم عبادت رکن دعبادت له وخت څخه وروسته نه وي لهذاذوالحجې لسمه ورځ په اشهرحج کې شامله ده.

ف:مګردامام ابویوسف رحمه الله په نزدذوالحجې لسم تاریخ په اشهرحج کې داخل نه دی ولې چې دلسم تاریخ په طلوع فجرسره دهغه کس په حق کې حج فوت کیږي چې هغه وقوف عرفه نه وي کړی حال داچې عبادت ترڅوچې وخت باقي وي نه فوت کیږي نودده په نزداشهرحج شوال ،ذی قعده اوذالحجې نهه ورځې اولس شپې دي .امام ابویوسف رحمه الله ته ځواب ویل شوی دی چې وقوف عرفات په طلوع فجر سره په دي وجه فوت کیږي چې دنص په وجه په مخصوص وخت پسې موقت دی همداوجه ده چې یوم الترویة له اشهرحج څخه ده مګرپه دي کې وقوف عرفات جائزنه دی.

ف:دامام مالک رحمه الله په نزدټوله ذی الحجه په اشهرحج کې شمارده لقوله تعالی ﴿ الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ ﴾ اشهردجمع په لفظ سره ذکرشوی دی اودجمع اطلاق لږترلږه پردریوافرادوکیږي لهذاشوال ،ذی القعده اوذی الحجه دري سره اشهرحج دي .امام مالک ته ځواب ورکړل شوی دی چې کله پر بعض باندي د کل اطلاق کیږي لکه رایت زیداسنة کذا(مازیدپه فلانکی کال ولیدی)حال داچې ده زیدددي کال په یوه ګړی کې لیدلی دی.

(۱۱۰)كه چاله اشهر حج څخه وړاندي دحج احرام وتاړه نو دا جائزدي په دي وجه چې احرام شرط دى لكه دلمانځه دپاره اودس ،كوم چې له دخول وخت څخه وړاندي هم صحيح دى په دي احرام سره حج صحيح كيږي مګرداسې كول (يعنى له اشهرحج څخه وړاندي احرام تړل)مكروه دي ولى چې دوخت دډيروالى په وجه سره په محظوارت احرام كې دواقع كيدلو خطره ده ،دامام شافعي رحمه الله په نزداحرام ركن دى لهذاله وخت څخه وړاندي جائزنه دى .

(۱۱۱)وَلَوِ اعْتَمَرَ كُوفِيٌّ فِيهَا وَأَقَامَ بِمَكَّةَ أَوْ بِالْبَصْرَةِ وَحَجَّ صَحَّ تَمَتُّعُهُ (۱۱۲)وَلَوْ أَفْسَدَهَا فَأَقَامَ بِمَكَّةَ وَقَضَى وَحَجَّ لَا (۱۱۳)إلَّا أَنْ يَعُودَ إلَى أَهْلِهِ (۱۱۴)وَأَيُّهُمَا أَفْسَدَ مَضَى فِيهِ وَلَا دَمَ عليه (۱۱۵)وَلَوْ تَمَتَّعَ وَضَحَّى لَمْ يَجْزِ عَنِ الْمُتْعَةِ (۱۱۶)وَلَوْ حَاضَتْ عِنْدَ الْإِحْرَامِ أَتَتْ بِغَيْرِ الطَّوَافِ (۱۱۷)لو عِنْدَ الصَّدَرِ تَرَكَتْهُ كَمَنْ أَقَامَ بِمَكَّةَ

ترجمه:كه عمره وكړه كوفى شخص په اشهرحج كې اوپاته شوپه مكه مكرمه كې ياپه بصره كې او حج يې وكړنو صحيح ده دده تمتع ،اوكه يې عمره فاسده كړه اوبياپه مكه كې پاته شويايې قضاء وكړه اوحج يې اداء كړنو صحيح نه ده ،مګرداچې واپس راشي دخپل اهل طرف ته ،اوپه حج وعمره چې كوم يوهم فاسد كړي دهغه افعال دي كوي اوپرده دم نشته ،اوكه يې تمتع وكړه اوقرباني يې وكړه نو دا كفايت نه كوي له دم تمتع څخه ،اوكه ښځه حائضه شوه داحرام پروخت نو اداء دي كړي له طواف څخه ماسوانور اركان ،اوكه دطواف صدرپروخت حائضه شوه نوهغه دي پريږدي لكه هغه كس چې هغه مقيم شي په مكه مكرمه كې .

تشريح :(۱۱۱)كه كوم كوفى كس (مراد افاقى دى)په اشهرحج كې عمره اداء كړه په مكه مكرمه يابصره (له بصري څخه مراد هرهغه ځاى دى چيرته چې دده اهل مقيم نه وي)كې يې اقامت اختيار كړيايې په همدي كال حج هم اداء كړنو دده حج تمتع صحيح دى په مكه مكرمه كې دپاتې كيدلوپه صورت كې خوښكاره ده چې په يوه سفركې يې دوه عبادتونه اداء كړل په دي وجه داحج تمتع شو .پاتې شوه په بصره كې دپاتې كيدلوصورت نوپه دي كې اختلاف دى ،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپه دي صورت كې هم داحج تمتع دى ولى ترڅوچې خپل كورته واپس رانه شي نودده سفرقائم دى ،مګردصاحبينوپه نزدپه دي صورت كې داحج تمتع نه دى ولى چې له مكې مكرمې څخه دبصري طرف ته وتل كورته دتللوپه شان دي ،نو دامام صاحب په نزدپرداسې كس باندي دم واجب دي اودصاحبينوپه نزدواجب نه دي .

ف:ددي مسئلې په نقل كولوكې دامام طحاوى اوامام جصاص اختلاف راغلى دى ،دامام طحاوى په نزددتمتع باقى پاته كيدل دامام صاحب قول دى اودتمتع باطليدل دصاحبينو قول دى ،نوكه دطحاوى قول صحيح وګڼل شي نودامام ابوحنيفه رحمه الله قول مفتى به دى لماقال العلامة الحصكفي:كوفى اى آفاقى حل من عمرته فيهااى الاشهروسكن بمكة اى داخل المواقيت اوبصرة اى غير بلده وحج من عامه متمتع لبقاء سفره (الدرالمختار:۲/۲۱۵) .قال فى الحقائق كثيرمن مشائخناقالوالصواب ماقاله الطحاوى وقال الصفار كثيراماجربناالطحاوى فلم نجده غالطاوكثيراماجربناالجصاص فوجدناه غالطاوقال الزيلعى والمسئلة الآتية تويده ماحكاه الطحاوى.اوامام جصاص په مذكوره مسئله كې دامام صاحب اوصاحبينوترمنځ اتفاق ذكركړى دى اوليكلې دي چې مذكوره شخص بالاتفاق متمتع دى دائمه ثلاثه ترمنځ هيڅ اختلاف نشته ،قال فخرالاسلام ان قول الجصاص هوالصواب وفى المعراج هوالصحيح وهوالاصح قال ابواليسروهوالصواب لان محمداذكرالمسئلة ولم يحك فيهاخلاف ،اودعلامه شامى رحمه الله رجحان هم دامام طحاوى دقول طرف ته دى ،اوپه

فتاوی هندیه ۱/ ۲۴۰کې هم دامام صاحب قول ذکر کړی دی چې داکس متمتع دی او متون هم پر همدي باندي دي او داکثر مشائخو رأیه هم دامام طحاوی درأیې مطابق ده په دي وجه چې امام طحاوی اعلم بمذهب الامام دی ،همدا راز که دامام طحاوی قول واخیستل شي نو دمذکوره اختلاف ثمره وجوب دم او عدم وجوب دم کې معلومیږی چې دامام صاحب په نزد په دي کس باندي دم تمتع لازمیږي او دصاحبینو په نزد دم نه لازمیږي او په دم لازمولو کې احتیاط هم دی .

(۱۱۲)او که آفاقی کس عمره فاسده کړه بیا په بصره یا مکه مکرمه کې مقیم شو بیا یې په اشهر حج کې ددي فاسدي عمري قضاء وکړه او په همدی کال یې حج هم اداء کړ نو دا حج تمتع نه دی ولی چې دلومړی عمري په فاسده ولو سره دده داسفر ختم شو اوس ددي عمري دقضاء پر وخت ځکه چې داکس په مکه مکرمه کې مقیم دی لهذا حج تمتع نشي کولی ولی چې په مکه مکرمه کې دمقیم کس لپاره تمتع جائز نه ده کما مر.

(۱۱۳)قوله الاان یعود ای لایکون فی صورة الافساد والقضاء متمتعا الاان یعود الی اهله ،یعنی که دلومړی عمري له فاسدولو څخه وروسته کورته راغی بیا یې په اشهر حج کې عمره اداء کړه بیا یې حج هم اداء کړ نو داکس بالاتفاق متمتع دی ولی چې کورته په تللو سره اوس داکس مکی نه دی افاقی دی او افاقی کس حج تمتع کولی شي .

(۱۱۴)او که حج تمتع کونکې په حج او عمره کې یو فاسد کړ نو کوم یو چې یې فاسد کړی دی دهغه افعال دي اداء کړي ولی چې ددي له افعالو اداء کولو څخه بغیر دده لپاره له احرام څخه وتل ممکن نه دی لهذا ددهغه افعال اداء کول لازمي دي ،او اوس پر ده دم تمتع هم نشته ولی چې ده په یوه سفر کې ددو عبادتونو فائده حاصله نه کړه ،البته دده پر ذمه دم فساد او جنایت واجبیږي .

(۱۱۵)که حج تمتع کونکې دعید الاضحی پرورځ دقرباني په نیت سره دقرباني څاروی ذبح کړ نو دادتمتع له طرف څخه کفایت نه کوي ولی چې ده خو اضحیه ذبح کړه حال داچې دم تمتع خو له اضحیې څخه علاوه بطور شکر واجب دي نو ځکه چې په دي دواړو کې مغایرت دی په دي وجه سره یو له هغه بل څخه کفایت نه کوي .

(۱۱۶)یعنی که ښځې ته داحرام تړلو پر وخت باندی حیض ورغی نو دادي غسل وکړي او احرام دي وتړي ولی چې دغسل دنظافت دپاره دی دطهارت لپاره نه دی ،بیا چې کله دافعال حج وخت راشي نو دادحج ټول افعال اداء کولی شي ولی چې حضرت عائشه ﷺ په مقام سرف کې حائضه شوه نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې حاجې چې کوم ارکان کوي ته هم هغه اداء کړه مگر دبیت الله طواف مه کوه ترڅو چې ته پاکه نشې ،او دبیت الله طواف په دي وجه سره نشي کولی چې طواف په مسجد حرام کې کیږي او دحائضې دپاره دخول مسجد جائز نه دی .

(۱۱۷)قوله ولو عند الصدر ترکه ای لو حاضت عند طواف الصدر ترکه ،یعنی که کومې ښځې ته له وقوف عرفات او طواف زیارت څخه وروسته دطواف صدر پر وخت حیض ورغی نو داطواف صدر پرېښودای او کورته تلی شي اودطواف صدر دپرېښودلو په وجه سره پردي دم وغیره هیڅ هم نه واجبیږي ولی چې نبی کریم ﷺ

حائضه ښځوته دطواف صدر دپرېښودلو اجازه ورکړي وه البته که له مکې مکرمې څخه له وتلو وړاندې پاکه شوه نوطواف صدربه کوي اوکه دبیوت مکه څخه دتیریدلو وروسته پاکه شوه نودطواف صدردپاره دي پېرته نه راګرځي ،کوم حکم چې دحائضې ښځې دی هغه دنفاسې ښځې هم دی.

ف:ښځه دحیض یانفاس په حالت کې طواف زیارت نشي کولی ترپاکیدلو انتظارکول ورباندې لازم دی لیکن که دي ته دویزې یادجهازدتاریخ مشکل پیش وو نوپه داسې صورت کې که دادناپاکې په حالت کې طواف وکړي نو داحنافو په نزدطواف اداء کیږي البته پردې په حرم کې دم (یعنی اوبس) ذبح کول واجب دی.

قوله کمن اقام بمکة ای ترکه تر کا کترک من اقام بمکة ،یعنی حائضه ښځه دي طواف صدرپرېږدي لکه چې دهغه کس دپاره دطواف صدرپرېښودلو حکم دی کوم چې په مکه مکرمه کې مقیم شي یعنی مکه مکرمه خپل مسکن جوړکړي نودده پرذمه طواف صدرواجب نه دی ولی چې طواف صدردافاقیانودپاره دی ، اوداهغه وخت دی چې کوم یوددذوالحجې له دیارلسم تاریخ څخه وړاندې دمقیم کیدلونیت وکړي ،اوکه چاله دیارلسم تاریخ څخه وروسته داقامت نیت وکړنودده پرذمه طواف صدرلازم دی.

بَابُ الْجِنَايَاتِ

داباب دجنایاتو په بیان کې دی

جنایات دجنایةٌ جمع ده شرعاًحرام فعل ته ویل کیږي خواه که په مال کې وي اوکه په نفس کې وي دلته مراددداسې فعل ارتکاب دی کوم چې داحرام یاحرم په سبب حرام وي .کله چې مصنف رحمه الله دمحرمینو له بیان څخه فارغ شونواوس محرمینوته پیښبودنکې عوارض یعنی جنایات ،احصاراو دفوات احکام په راتلونکو دریو بابونو کې بیانوي.

(۱۱۸)تَجِبُ شَاةٌ إِنْ طَيَّبَ مُحْرِمٌ عُضْوًا (۱۱۹) وَإِلَّا تَصَدَّقَ (۱۲۰) أَوْ خَضَبَ رَأْسَهُ بِحِنَّاءٍ أَوْ ادَّهَنَ بِزَيْتٍ (أَوْ لَبِسَ مَخِيطًا أَوْ غَطَّى رَأْسَهُ يَوْمًا (۱۲۱) وَإِلَّا تَصَدَّقَ (۱۲۲) أَوْ حَلَقَ رُبْعَ رَأْسِهِ أَوْ لِحْيَتِهِ (۱۲۳) وَإِلَّا تَصَدَّقَ كَالْحَالِقِ (۱۲۴) أَوْ رَقَبَتَهُ أَوْ إِبِطَيْهِ أَوْ أَحَدَهُمَا أَوْ مِحْجَمَهُ

ترجمه: واجب ده پسه که خوشبو ولګوله محرم په پوره اندام باندې ،که نه نو صدقه دې وکړي ،یایې ورنګاوو خپل سرپه نکریزو یایې دزیتون تیل ولګول یایې په تن کړه ګنډل شوي جامه یایې پټ کړسرپوره ورځ ،که نه نو صدقه دې وکړي ،یایې وخرییو دخپل سرڅلورمه حصه یادږيري څلورمه حصه ،که نه نو صدقه دې وکړي دخرییونکې په شان ،یایې خپله غاړه یادواړه بغلونه یایویایې دښکرلګولو ځای.

تشریح:(۱۱۸)که کوم محرم په یو اندام (مثلاسریالاس وغیره)یازیاتو اندامونو باندې په یوه مجلس کې خوشبوئي ولګوله نوڅرنګه چې داکامل جنایت دی په دې وجه پردې کس باندې دپسه ذبح کول لازم دی.

(۱۱۹)قوله او الاتصدق ای وان لم يطيب عضوا كاملابل طيب اقل منه تصدق ،یعنی که یې له یوه اندام څخه په کم باندې خوشبوئي ولګوله نو دجنایت دنه کامل والی په وجه سره په دې کس د (نتته البته صدقه کول لازم دي

ف:شرط دادی چې خوشبولګونکی به بالغ وی نوکه کوم هلک داحرام په حالت کې خوشبوئي ولګوله نوپرده هيڅ هم واجب نه دي کمافي شرح التنوير:(الواجب دم على محرم بالغ)فلاشئ على الصبي خلافا للشافعي (الدرالمختارعلى هامش الشامية:٢/٢١٧)

ف:صرف عمداخوشبولګول جنايت نه ده بلکه خطاء ،نسيانا ،حالت اکراه اوډخوب په حالت کې لګول شوي خوشبوئي هم جنايت دی نوکه داستلام رکن په وخت دچاپرلاس يامخ باندی خوشبوئي ولګيدله بياهم پرده دم واجبيږي که په زيات مقدارسره وه اوکه په کم مقدارسره وه نوصدقه لازميږي کمافي الشامية:(قوله ولوناسيا)قال في اللباب ثم لافرق في وجوب الجزاء بين مااذاجنى عامدااوخطاءمبتدئااوعائدا ذاكرااوناسيا عالمااوجاهلا طائعااومكرهانائمااومنتبها (ردالمحتار:٢/٢١٧)

ف:مصنف رحمه الله داقيدولګاوو چې خوشبوئي لګونکی به محرم وي ،نوداقيداحترازي دی نوکه چاله احرام څخه وړاندي خوشبوئي ولګوله بياله احرام څخه وروسته داخوشبوله يوه عضوڅخه بل عضوته منتقل شوه نوپرده هيڅ هم لازم نه دي کمافي الشامية:وقيدبالمحرم لان الحلال لوطيب عضوا ثم احرم فانتقل منه الى آخرفلاشئ عليه اتفاقا (ردالمحتار:٢/٢١٨)

ف:التطيب عبارة عن لصوق عين له رائحة طيبة ببدن المحرم اوبعضوه ،نوکه يې خوشبوبوی کړه مګرعين خوشبوئي له بدن سره ونه لګوله نوهيڅ واجب نه دي.

ف:پرمحرم چې چيرته هم دم لازم وي نودده لپاره دپسه ذبح کول کفايت کوي مګرپه دووصورتونوکې اوښ ذبح کول واجب دی (١)چې محرم له وقوف عرفه څخه وروسته جماع وکړي .(٢)چې محرم طواف زيارت دجنابت ياحيض يانفاس په حالت کې وکړي ،همداشان پرمحرم چې چيرته هم صدقه لازمه وي اودهغې مقدارمتعين نه وي نوله هغې څخه مرادنصف صاع غنم يايوه صاع خرماوی يااوربشې مراددي البته دسپږي اوملخ دمړه کولوپه صورت کې چې يې څومره خوښه وي صدقه دي کړي .(کمافي الهداية :١/٢٨٠)

(١٢٠)قوله اوخضب رأسه اى تجب شاة ان خضب رأسه الخ ،يعني که محرم پرخپل سرباندي نکريزي ولګول نوپرده دم لازميږي ولی چې نکريزي خوشبوئي ده لقوله ﷺ ﴿الحناءطيب﴾(نکريزي خوشبوئي ده)،همداشان که يې دزيتون تيل ولګول نوهم دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپرده دم واجبيږي ولی چې دزيتون تيل بې شکه چې خوشبوئي نه ده ليکن دخوشبوئي اصل اوريښه ده لهذادخوشبوئي په شان په دي کې هم دم واجبيږي .دصاحبينو په نزدپرده صدقه واجبه ده ولی چې روغن زيتون خوشبوئي نه ده بلکه دخوراک له شيانوڅخه ده هودپراګندګي دلري کولولپرنفع په کې شته لهذپرده صدقه واجبيږي ، همداشان که محرم ګنډل شوې جامه (قميص ،پرتوګ ،چينه)پوره ورځ ياپوره شپه په تن کړه ياېې پوره ورځ سرپټ کړپه داسې حال کې چې داجامه اغوستل اوسرپټول په معتادطريقه سره وي نوپردي کس هم دم لازم دي ولی چې ارتفاق کامل دی.

ف:بايديادوساتل شي چې دروغن زيتون په باره کې چې دامام صاحب اوصاحبينوکوم اختلاف دی داد خالص زيتون په باره کې دی ،که يې په زيتون کې خوشبوئي هم ګډه کړه نوپه دي صورت کې اختلاف نشته بلکه بالاتفاق پرده دم لازميږي .اودخالص زيتون په باره کې ادامام صاحب قول راجح دی کمافي

الدر المختار: او ادهن اوبت او حل اى الشيرج ولو كانا خالصين لانهما اصل الطيب قال ابن عابدين: (قوله لانهما اصل الطيب) باعتبار انه يلقى فيهما الانوار كالورد و البنفسج فيصيران طيبا ولا يخلوان عن نوع طيب ويقتلان الهوام ويلينان الشعر ويزيلان التفث و الشعث وهذا عند الامام ولا اعليه صدقة (الدر المختار مع الشامية: ۲/۲۱۹)

ف: كه محرم ګنډل شوي جامه په خلاف عادت طريقه سره په تن كړه مثلاله قميص څخه يې څادرجوړ كړو ايې غوستى يا يې له پرتوګ څخه ازار جوړ كړنو هيڅ هم لازم نه دي په دي وجه چې دا د ګنډل شوي جامي په معنى كې نه دي ولى چې د ګنډل شوي جامې اغوستل دادي چې د خياطت په واسطه سره دوه شيان حاصل شي اشتمال على البدن او استمساک لهذا له دي دواړو څخه چې كوم شى هم منتفى وي نو دي ته د ګنډل شوي جامې اغوستنه نه ويل كيږي.

ف: دامام شافعى رحمه الله په نزد د ګنډل شوي جامې په تن كولو سره فورا دم واجبيږي ځكه چې دا د احرام له محظوراتو څخه ده، دامام ابويوسف رحمه الله په نزد كه يې اكثره ورځ واغوستله نو دم واجبيږي ځكه چې للاكثر حكم الكل. دامام صاحب دليل دا دى چې نبى كريم ﷺ فرمايلي دي عليه دم ان لبس يوما (كه يې يوه ورځ ګنډل شوي جامه په تن كړه نو پر ده دم دي).

(۱۲۱) قوله والاتصدق اى وان لم يلبس مخيطا ولم يغط رأسه يوما كاملا بل اقل من يوم تصدق، يعنى كه محرم تر يوې ورځې يا يوې شپې لږ وخت ګنډل شوي جامه په تن كړه يا يې سر پټ كړنو پر ده صدقه لازمه ده ځكه چې ارتفاق كامل نه دى نو د جنايت د كم والى په وجه سره دم نه واجبيږي بلكه صدقه واجبيږي.

(۱۲۲) قوله او حلق ربع رأسه اى يجب دم ان حلق ربع رأسه، يعنى كه محرم د سر څلورمه حصه ياله دي څخه زياته يا څلورمه حصه د ږيرې ياله دي څخه زياته وخرييله نو پر ده دم لازم دي ځكه چې د سر يوه څلورمه يا د ږيرې يوه څلورمه برخه خريل په ځينو علاقو كې معتاد دي لهذا د جنايت د كامل والى په وجه سره پر ده دم لازم دي.

(۱۲۳) قوله والاتصدق اى وان لم يكن قدر الربع بل اقل منه تصدق، يعنى كه يې تر څلورمې حصې كم وخرييو نو پر ده صدقه واجب ده ځكه چې له ربع څخه كم خريل د نه معتاد والى په وجه سره كامل جنايت نه دى لهذا دم نه لازميږي بلكه صدقه لازمه ده.

لفظ كالحالق په محل نصب كې واقع دى د مصدر محذوف لپاره د صفتيت په بناء منصوب دى اى تصدق تصدقا كتصدق الحالق شعر رأس غيره، يعنى له ربع سر څخه كم سر خرييونكې دي دومره صدقه وكړي څومره چې د بل سر خرييونكى صدقه كوي ولى چې ده د بل د سر په خرييلو سره د پراګندګې په لري كولو ارتفاق حاصل كړ ځكه چې دا جنايت كامل نه دى لهذا پر ده صرف صدقه ده.

ف: دامام شافعى رحمه الله په نزد د حلق قليل په صورت كې هم دم واجبيږي ولى چې هر ويښته د احرام په وجه سره امن حاصل كړى دى نو د دريو ويښتانو په كينلو سره دم لازميږي او په يوه ويښته كې ثلث دم واجب ده، د احنافو په نزد له ربع څخه د كم اعتبار نشته ولى چې له ربع څخه كم خريل معتاد نه دي.

(۱۲۴) قوله رقبته الخ رقبته بيا تر محجمه پورې دا عبارت په محل د نصب كې دى پر ربع راسه باندې عطف دى تقدير د عبارت داده او حلق رقبته او ابطيه الخ، يعنى كه محرم د خپلې غاړې ويښتان يا د دواړو بغلونو يا د يوه

بغل ويښتان وخريـيل ياپې دشكرلګولو ځاى وخريـيونو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد پردي كس باندي دم لازم دي ولې چې ددي ځايونو حلق مقصود دى او دشكرلګولو ځاى خريـيل په دي وجه مقصود دي چې له دي څخه بغير مقصود نه حاصليږي.

ف: دصاحبينو په نزد دشكرلګولو ځاى په خريـيلو سره دم نه لازميږي صدقه لازمه ده ولې چې دا مقصود نه دى البته په دي خريـيلو كې دخيريولري كولو تحقق راځي په دي وجه صدقه لازمه ده، صاحبينو ته ځواب وركړل شوى دى چې شكرلګونكى ته ددي ځاى خريـيل مقصود دي لهذا په دي صورت كې دم لازميږي، دامام صاحب قول راجح دى كما قال الشيخ عبدالحكيم الشارلي كوټي: واختار قوله اصحاب المتون واختاره في الفتاوى قاضيخان حيث قال ولو حلق موضع الحجامة كان عليه الدم في قول ابى حنيفة رحمه الله وايضا اختاره في الشامي ونور الايضاح وابن الهمام في الفتح (هامش الهداية: ۲۲۹/۱)

(۱۲۵) وَفِي أَخْذِ شَارِبِهِ حُكُومَةُ عَدْلٍ وَفِي شَارِبِ حَلَالٍ اَوْ قَلْمِ أَظْفَارِهِ طَعَامٌ (۱۲۶) اَوْ قَصِّ أَظْفَارِ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ بِمَجْلِسٍ اَوْ يَدًا اَوْ رِجْلًا (۱۲۷) وَاِلَّا تَصَدَّقَ كَخَمْسَةٍ مُتَفَرِّقَةٍ (۱۲۸) وَلَا شَيْءَ بِأَخْذِ ظُفْرٍ مُنْكَسِرٍ (۱۲۹) وَاِنْ تَطَيَّبَ اَوْ لَبِسَ اَوْ حَلَقَ بِعُذْرٍ ذَبَحَ شَاةً اَوْ تَصَدَّقَ بِثَلَاثَةِ أَصْوُعٍ عَلَى سِتَّةٍ اَوْ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ

ترجمه: او دبريتونو په خريـيلو كې ديوه عادل حكم دى او دحلال دبريتونو په خريـيلو كې ياده دنوكانو په پري كولو كې خوراك دى، ياپې پري كړل دخپلو دواړولاسونو او پښونو كان په يوه مجلس كې يا ديوه لاس اويوې پښې، كه نه نو صدقه دي وكړي لكه په پنځو متفرقونوكانو كې، او هيڅ واجب نه دي دماتشوي نوك په پري كولو كې، او كه يې خوشبوئي ولګوله ياپې ګنډل شوي جامه واغوستله ياپې خريـيل وكړل دعذر په وجه سره نو ذبح دي كړي پسه يا دي صدقه كړي دري پيمانې پر شپږو مسكينانو يا دي روژي ونيسي دري ورځې.

تشريح: (۱۲۵) كه محرم خپل بريتونه وخريـيل نو يو عادل كس چې كوم فيصله وكړي هغه دي صدقه كړي عادل كس به دربع لحيه په نسبت ورته ګوري چې خريـيل شوي بريت دربع لحيه څومره حصه جوړيږي دهغه مطابق دي فيصله وكړي، او كه محرم دحلال يعنى غيرمحرم بريتونه وريري كړل ياپې دغيرمحرم نوكان وريري كړل نو دصدقه فطر په اندازه طعام دي وركړي، دامام شافعى رحمه الله په نزد هيڅ هم واجب نه دي، زمونږ دليل دادى چې محرم دانسانې جسم د لويدونكو شيانو په پري كولو سره داحرام دممنوعاتو ارتكاب وكړو ولې چې دانسانې جسم لويدونكې شيان دحرم دونو په شان دامن مستحق دي.

ف: دامسئله دامام محمد رحمه الله په مذهب متفرع ده كه نه نو اصح داده چې ږيره اوبريت يو عضو دى نو دبريتو په پري كولو سره صدقه لازميږي او كه محرم دحلال كس بريتونه پري كړل نو دمحرم چې څومره خوښه وي صدقه دي وكړي كما في فتح القدير: واعلم ان هذا التفريع على قول محمد وفي المبسوط خلافه والاصح انه لايجب الدم لانه طرف من اللحية وهو مع اللحية كعضو واحد واذا كان الكل عضوا واحدا لايجب مما دون الربع منه شئ من الدم والشارب دون ربع اللحية فتكفيه الصدقة (فتح القدير: ۴۴۶/۲)

(۱۲۶) اوقص اظفار الخ داعبارت په ماقبل كې په هغه امورو باندي عطف ده په كوموكې چې پسه واجب دى اى تجب شاة ان قص محرم الخ، يعنى كه محرم ددواړولاسونو او پښونو كان په يوه مجلس كې پري

كړل نو پر دې يو دم لازم دى ولى چې داارتفاق كامل دى ياځرنګه چې داتحاد مجلس په وجه سره دا يو جنايت ګڼل كيږي په دې وجه يو دم كافي دى ،اوكه په مجلس كې تعدد وو نو په دم كې به هم تعدد وي ،قوله يديه ورجليه اي قص اظفار يد واحدة او رجل واحدة ،له يدا ورجل څخه اظفار يدا و اظفار رجل مراد دي ،يعنى كه يې صرف د يو لاس يا يو ي پښې نوكان پري كړل نو بيا هم يو دم لازم دى ولى چې په ډيرو ځايونو كې ربع د كل په حكم كې وي ،او د يو لاس يا يو ي پښې نوكان د انسان د ټولو نوكانو يو ربع ده .

(۱۲۷) قوله والتصدق اي وان لم يكن كذالك بل قص اقل من خمسة اظفار ،يعنى كه يې له پنځو نوكانو څخه كم پري كړل نو د هر نوك په بدله كې صدقه لازمه ده ،او كه يې پنځه نوكان پري كړل مګر له لاس او پښو څخه يې په متفرق ډول پري كړل نو د شيخينو په نزد صدقه لازمه ده او د امام محمد په نزد دم لازم دي ،د شيخينو په نزد ځرنګه چې په دې سره كمال راحت نه حاصليږي نو د كامل جنايت د نه تحقق په وجه سره پر دې دم لازم نه دي .

ف: د شيخينو قول راجح دى لمافى الهندية: ولو قلم خمسة اظافير من الاعضاء الاربعة المتفرقة تجب الصدقة لكل ظفر نصف صاع فى قول ابى حنيفة وابى يوسف (الهندية: ۱/۲۴۴)

ف: د امام زفر په نزد كه د يو لاس دري نوكان پري كړي نو هم دم واجبيږي ولى چې د يو لاس دري نوكان د ده اكثر دي وللاكثر حكم الكل ،امام زفر ته ځواب وركړل شوى دى چې د يو لاس نوكان د انسان د ټولو نوكانو قائم مقام دي نو كه دري نوكان د يو لاس د نوكانو قائم مقام جوړ كړاى شي نو د بدل بدل په رأيه سره مقرر ول لازميږي كوم چې جائز نه دى.

(۱۲۸) او كه محرم مات شوى نوك لري كړنو په دې كې هيڅ هم نشته ولى چې له ماتيدلو وروسته هغه نه لويږي لهذا او س دا د حرم دو چې درختې په څير شو د كومې په پري كولو كې چې هيڅ واجب نه دي .هدارازله پري كيدلو څخه وروسته دا نتفاع قابل هم نه دى په دې وجه د ده په پري كولو كې هيڅ نه واجبيږي .

(۱۲۹) له دې څخه وراندې دغير معذور جاني (جنايت كونكي) د جنايت بيان وو په دې متن كې دعذر په وجه سره د جنايت كونكي د جنايت بيان دى .يعنى كه چا دعذر په وجه سره خوشبوئي ولګوله يا يې ګنډل شوي جامه په تن كړه يا يې خپل سر و خرييو نو د شريعت له طرفه ده ته اختيار دى كه يې خوښه وي نو پسه دې ذبح كړي يا دې شپږ مسكينانو ته درې صاع (بحساب درهم ۲۷۰ تولې او بحساب مثقال ۲۷۲ تولې) غنم صدقه كړي او كه يې خوښه وي نو درې روژې دې ونيسي لقوله تعالى ﴿ فمن كان منكم مريضا او به اذى من راسه ففدية من صيام او صدقة او نسك ﴾ (يعنى كوم كس چې له تاسې څخه مريض وي يا ده لره ايذاء وي له سر څخه نو پر ده فديه واجب ده په روژه نيولو سره يا په صدقه وركولو سره يا په قرباني كولو سره)په ايت كريمه كې او د تخيير د پاره دى او نبى كريم ﷺ دا ايت مبارك همدا تفسير كړى دى كوم چې مو ړ ذكر كو .ايت مبارك د سر په باره كې نازل شوى دى د خوشبو او ګنډل شويو جامه حكم له ده څخه د لالة معلوميږي .

فصل

له دې ځخه وروسته دخوشبوئي وغيره ذکروو اوس دجماع اودواعی جماع بيان فرمايي نو په دواړوکې وجه دمناسبت داده چې خوشبوئي وغيره هم شهوت راپاروي ولی چې په خوشبوئي لګولو او دويښتانو وغيره دپراګندګی (خيري) په لري کولو کې يوقسم راحت اوينت دی نو ګويا خوشبوئي وغيره وسائل جماع دي اودشي وسيله له شي ځخه مقدمه وي .

(١٣٠) وَلَا شَيْءَ إِنْ نَظَرَ إِلَى فَرْجِ امْرَأَةٍ بِشَهْوَةٍ فَأَمْنَى (١٣١) وَتَجِبُ شَاةٌ إِنْ قَبَّلَ أَوْ لَمَسَ بِشَهْوَةٍ (١٣٢) أَوْ أَفْسَدَ حَجَّهُ بِجِمَاعٍ فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ قَبْلَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ وَيَمْضِي وَيَقْضِي (١٣٣) وَلَمْ يَفْتَرِقَا فِيهِ (١٣٤) وَبَدَنَةٌ لَوْ بَعْدَهُ وَلَا فَسَادَ (١٣٥) أَوْ جَامَعَ بَعْدَ الْحَلْقِ (١٣٦) أَوْ فِي الْعُمْرَةِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ لَهَا الْأَكْثَرَ وَتَفْسُدُ وَيَمْضِي وَيَقْضِي (١٣٧) أَوْ بَعْدَ طَوَافِ الْأَكْثَرِ وَلَا فَسَادَ

ترجمه :اوهيڅ واجب نه دي که چاوکتل دښځې شرمګاه ته په شهوت سره او دده منی ووتل ،او په واجب دی که يې مچه واخيسته يايې مس وکړ په شهوت سره ،يايې فاسد کړ خپل حج په احد السبيلين کې په جماع کولو سره له وقوف عرفه ځخه وړاندي ،اودحج افعال دي اداء کړي او قضاء دي راوړي ،او دواړه دي جلا نه وي په قضاء کې ،اوبدنه واجب ده که له وقوف ځخه وروسته وو او فاسديږي نه ،يايې جماع وکړه وروسته له حلق ځخه ،ياپه عمره کې له اکثر طواف کولو ځخه وړاندي او عمره فاسديږي او دهغې افعال دي وکړي او قضاء دي راوړي ،يايې له اکثر طواف ځخه وروسته جماع وکړه او عمره نه فاسديږي .

تشريح :(١٣٠) يعنی که محرم په شهوة سره دکومې ښځې شرمګاه ته وکتل چې په دې سره دده انزال وشونو پرده دم وغيره هيڅ واجب نه دي ولی چې دده له طرفه نه صورة جماع شته او نه معنی .صورة جماع داده چې نارينه خپل عضو تناسل دښځې په شرمګاه کې داخل کړي او معنی جماع داده چې نارينه او ښځه سره يوځای شي او بغيرله ادخال ځخه انزال وشي .

(١٣١) که چامچه واخيسته يايې په شهوة سره مس وکړ نو که انزال وي او که نه وي پرده دم لازم دي ولی چې داپه احرام کې له ممنوعه شي ځخه په مقصودي طورباندي نفع اخيستل دي کوم چې منهی عنه دي ځکه چې داهم يوقسم رفث دی .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد په مچه اخيستلو او په شهوة سره په مس کولو که انزال وشونو دده احرام فاسديږي دی احرام په روژه باندي قياسوي يعنی لکه ځرنګه چې په دې شيانو سره روژه فاسديږي همدارنګ حرا م هم فاسديږي ،احناف وايې چې فساداحرام له عين جماع سره تعلق لري له جماع ځخه ماسوا په نورو ممنوعه افعالو سره حج نه فاسديږي لکه حدزنا چې له عين زنا سره تعلق لري له نورو ممنوعاتو سره متعلق نه دی ،هو په مچه وغيره کې هم يو نوعه رفث شته په دې وجه ددې شيانو په ارتکاب سره دم لازميږي ،باقي په روژه کې چې ځرنګه شهوت پوره کول حرام دی او قضاء شهوت په انزال سره حاصليږي په دې وجه سره روژه هم فاسديږي .

(١٣٢) قوله اوافسد حجه ای تجب شاة ان افسد حجه ،يعنی که کوم محرم کس له وقوف عرفات ځخه وړاندي دکوم انسان سره په احد السبيلين کې جماع وکړه نو دده حج فاسد شو اوس پرده ديوه پسه ذبح کول يا داوښ اوغوايې ځخه ديوه اومه حصه لازمه ده .اودنورو حاجيانو په شان پرده دحج باقي مانده افعال اداء کول

واجب دي او په راتلونکې کال کې پردي کس ددي حج قضاء هم لازمه ده ولی چې دا دسې کسانو (کوم چې احرام په حال کې جماع کړي وي) په باره کې نبی کریم ﷺ فرمایلې دي چې پردي دوا رو دم لازم دي او د خپل حج اعمال دي ادا ، کړي او ائنده کال پردوئ دحج اعاده واجبه ده .

(۱۳۳) یعنی مذکوره بالاحاجی (کوم چې له وقوف عرفه څخه وړاندي په جماع سره حج فاسد کړی وو) چې کله راتلونکی کال دحج قضاء کوي نو دده پره ښځه (له کومې سره چې ده په تیرشوي کال کې په جماع کولو سره حج فاسد کړي وو) هم قضاء لازمه ده اوس په قضاء راوړلو کې دوئ دواړه یوځای تلای شي جلا جلا تلل ضروري نه دي ولی چې جامع بین الزوجین (یعنی نکاح) قائمه ده نو له احرام څخه وړاندي وافتراق خو هیڅ وجه نشته ولی چې تردي وخته پوري جماع جائزده او له احرام څخه وروسته که څه هم جماع ممنوع ګرځي مګردیوځای کیدلو په صورت کې به یوبل ته وریادوي چې له دي څخه وړاندي دجماع ومعمولې لذت په وجه سره موږ په ډیرمشقت کې ولویدلو په دي وجه به داخل له جماع څخه ډیرلرې اوسېږو لهذا دافتراق هیڅ وجه نشته .

ف: له نوروائمه وڅخه دامام مالک رحمه الله په نزدپردوئ له خپل ښارڅخه له وتلووروسته جدائي لازمه ده.دامام زفر رحمه الله په نزدله احرام څخه وروسته جدائي لازمه ده ولی چې له حضرت عبدالله بن عباس اوعبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه همداشان مروی ده .دامام شافعی رحمه الله په نزدچې کله هغه ځای ته ورسیږي چیرته چې دوئ په تیرشوی کال کې جماع کړي وه نوله هغه ځای څخه پردوئ جدائي لازمه ده ځکه چې دتیرشوی کال دلذت په یادولو سره هسې نه چې بیاجماع وکړي .

(۱۳۴) قوله وبدنة لو بعدها ای تجب بدنة لو جامع بعد الوقوف بعرفة ،یعنی که چاله وقوف عرفات څخه وروسته له حلق څخه وړاندي جماع وکړه نو دده حج نه فاسدیږي ﴿ لقوله ﷺ من وقف بعرفة فقدتم حجه ﴾(چاچې وقوف عرفات وکړنو دده حج پوره شو)او ښکاره خبره ده چې حقیقة تام والی مرادنه دی په دي وجه چې طوف زیارت رکن دی کوم چې تراوسه پاتې دی بلکه حکماتام والی مراددی چې اوس نه فاسدیږي . البته جنایت څرنګه چې داعلی قسم څخه دی په دي وجه پرده بدنه لازمه ده ، همداشان له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه هم مروی ده .

(۱۳۵)اوجامع معطوف دی پرهغوجنایتونو په کوموکې چې پسه لازم دی نه پرهغوپه کوموکې چې بدنه لازمه ده ای وتجب علیه شاة ان جامع بعد الحلق.یعنی که کوم محرم له حلق څخه وروسته جماع وکړه په دي شرط چې له تول طواف زیارت یااکثرطواف زیارت څخه وړاندي یې کړي وي نوپردي کس پسه لازم دی ولی چې دښځوپه حق کې تراوسه پوري احرام باقی دی .او څرنګه چې له ښځوعلاوه دنوروشیانوپه باره کې احرام پای ته رسیدلی دی په دي وجه له دي جانی سره تخفیف کړل شوی دی چې دبدنې پرځای پسه لازم دی .

(۱۳۶) قوله اوفی العمرة ای تجب شاة ان جامع فی العمرة ،یعنی که چاعمره کوله څلورشوطه طواف یې لانه وو کړي چې جماع یې وکړه نو دجنایت جماع په وجه سره به پسه ذبح کوي ولی چې په عمره کې طواف داسې

دی لکه په حج کې وقوف عرفه البته څرنګه چې عمره سنت ده لهذا جنایت هغه مرتبه نه لري کومه چې یې دحج په صورت کې لرله په دي وجه به دلته پسه ذبح کوي اوهلته په حج کې به اوبن .اوپه جماع سره عمره فاسده شوه ولی چې جماع له رکن عمره یعنی طواف څخه وړاندي موجوده شوه نوداداسې شول لکه په حج کې له وقوف عرفات څخه وړاندي جماع کول .نوداکس به دنورو عمره کونکوپه څیردعمري باقی افعال (یعنی دطواف باقی مانده اشواط اوسعی بین الصفاوالمروة)اداء کوي اودفاسدشوي عمري قضاء به راوړي .

(۱۳۷)قوله اوبعدطواف الاکثر،معطوف ده پرهغوجنایتونوپه کوم کې چې پسه لازم دی ای تجب علیه شاة ان جامع بعدطواف الاکثر،یعنی که عمره کونکي له اکثرطواف (یعنی څلورشوطه یاله دي څخه زیات طواف)کولوڅخه وروسته له حلق څخه وړاندي جماع وکړه نوددي کس عمره نه فاسدیږي ولی چې اکثرطواف یې کړی دی اواکثردکل قائم مقام وي البته پرده دم لازم دي ولی چې دده داسې عمل ارتکاب وکړکوم چې په احرام کې ممنوع دی .

(۱۳۸)وَجِمَاعُ النَّاسِي كَالْعَامِدِ (۱۳۹)اوطَافَ لِلرُّكْنِ مُحْدِثًا (۱۴۰)وَبَدَنَةٌ لَوجُنُبًا وَيُعِيدُ (۱۴۱)وَصَدَقَةٌ لَومُحْدِثًا لِلْقُدُومِ وَالصَّدْرِ (۱۴۲)اوتَرَكَ أَقَلَّ طَوَافِ الرُّكْنِ (۱۴۳)وَلَوتَرَكَ أَكْثَرَهُ بَقِيَ مُحْرِمًا (۱۴۴)اوتَرَكَ أَكْثَرَ الصَّدْرِ (۱۴۵)اوطَافَهُ جُنُبًا (۱۴۶)وَصَدَقَةٌ بِتَرْكِ أَقَلِّهِ

ترجمه:اوپه هیره سره دجماع کونکي جماع دقصدا جماع کونکي په شان ده ،یایې طواف رکن وکړیې له اوداسه ،اوبدنه واجبیږی که یې دجنابت په حالت کې وکړاوطواف دي بیرته راګرځوي ،اوصدقه واجبیږي که یې بې اودسه طواف قدوم یاطواف صدروکو،یایې پریښودی له څلوروشوطونوڅخه کم طواف رکن ،اوکه یې اکثرپریښودی نومحرم پاته کیږي، یایې اکثرطواف صدرپریښودی ،یایې طواف صدردجنابت په حال کې وکړ،اوصدقه واجب ده په اقل پریښودلو کې .

تشریح:(۱۳۸)کوم محرم چې په هیره سره یادخوب په حالت کې یاداکراه (چاپه جماع کولومجبورکړ)په حالت کې جماع وکړه نوداد قصدا جماع کولوپه حکم کې ده ولی چې په نفع اخیستلوکې ټول سره برابردي .مګرداباید یادوساتل شي چې دنسیان ،خوب اواکراه په حالت کې جماع کول په وجوب کفاره کې دعمدا جماع په حکم کې ده په ګناه کې ددوئ حکم یوشان نه دی ولی چې دعمدپه صورت کې ګناه شته حال داچې په مذکوره صورتونوکې ګناه نشته .

(۱۳۹)اوطاف للرکن معطوف دی پرهغوجنایاتوپه کوموکې چې پسه لازم دی ای وتجب شاة ان طاف للرکن محدثا،یعنی که چاطواف زیارت بې اودسه وکړنوڅرنګه چې طواف زیارت رکن دی لهذا دنقصان دزیاتوالی په وجه سره دَم لازم دي .

(۱۴۰)قوله وبدنة لوجنبا ای تجب بدنة لوطاف جنبا،یعنی که یې طواف زیارت دجنابت په حالت کې اداء کړنودشدت نقصان په وجه سره په دي کس باندي بدنه لازمه ده مګربنه داده چې ترڅوچې داکس په مکه کې وي دطواف زیارت اعاده دي وکړي ترڅوپه کامل ډول سره اداء شي .

ف،، دامام شافعي رحمه الله په نزددا طواف بالکل معتبرنه دی ﴿ لقوله ﷺ الطواف بالبیت صلوۃ ﴾ لهذا دلمانځه په شان دطواف دپاره هم طهارت شرط دی اوقاده ده چې اذافات الشرط فات المشروط.امام شافعي رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې دباری تعالی ارشاد ﴿ ولیطوفوابالبیت العتیق ﴾ مطلق دی په کوم چې په خبرواحدسره زیادت کول جائزنه دي ،باقي په حدیث شریف کې دطواف په ثواب کې له لمانځه سره دبرابروالی تشبیه ده په حکم کې دبرابري تشبیه نه ده .

ف،په ځینونسخوکې داسې راغلي دي ،وعلیه ان یعید(یعنی دوجوب اعاده ذکرشته)نوشراحوداسې تطبیق ورکړی دی چې که یې طواف زیارت بې اودسه اداء کړنواعاده مستحب ده اوکه یې دجنابت په حالت کې اداء کړنواعاده واجب ده. بیا که یې دبې اودسې په صورت کې په کوم وخت کې هم اعاده وکړه اودجنابت په حالت داداء کولوپه صورت کې په ایام نحر کې اعاده وکړه نوپرده دم لازمه نه دي .اوکه دجنابت په حالت کې داداء شوي اعاده یې له ایام نحرڅخه وروسته وکړه نو دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدپرده دم لازم دي او همدا قول راجح هم دی کمافی الشامیة:قلت لکن اذااعادطواف الفرض بعدایام النحرلزمه دم عندالامام للتاخیر وهذاان کانت الاعادة لطرافه جبارالاقلاني علیه کمالواعاده فی ایام النحرمطلقاکمافی الهدایة ومشی علیه فی البحروصححه فی السراج وغیره (ردالمحتار:۲/۲۲۲)

(۱۴۱)قوله وصدقة لومحدثاللقدوم والصدرای وتجب صدقة لوطاف محدثاللقدوم والصدر،یعنی که چاطواف قدوم یاطواف صدریاکوم بل نفلي طواف بې اودسه وکړنوپردي کس دترک طهارت په وجه سره صدقه لازمه ده کومه چې به دترک طهارة دپاره جبیره وي ولی چې دطواف زیارت رتبه درکن والی په وجه سره له طواف صدراوطواف قدوم څخه لوړه ده دهغه دبې اودسه اداء کولوپه صورت کې دم واجبیږي نوداظهارتفاوت لپاره په طواف صدراوطواف قدوم کې صدقه واجبیږي.اوکه یې دجنابت په حالت کې طواف صدراداء کړنوځرنگه چې جنایت لړاندازه لوی دی نوپرده دم لازم دي لیکن ځرنگه چې له طواف زیارت څخه دده مرتبه کوچنی ده په دي وجه په پسه اکتفاء وشوه دوجوب بدنه امرونه شو.

(۱۴۲)اوترک اقل طواف الرکن ،معطوف ده پرهغوجنایاتو په کوموکې چې پسه لازم ده ای تجب شاةان ترک الاقل من طواف الرکن ،یعنی که چادطواف زیارت دري یاله دریوڅخه کم شوطونه پرېښودل بیایې له دي څخه وروسته کوم نفلي یا واجب طواف هم ونه کړنودترک اقل په وجه سره نقصان کوچنی دی په دي وجه سره پرده دم لازم دي لکه ځرنگه چې دطواف زیارت دبې اودسه کولوپه صورت کې ده.اوکه داکس خپل کورته ولاړی نودواپس گرځیدلوضرورت نشته بلکه دم دي ولیږي .

(۱۴۳)اوکه یې دطواف زیارت څلوریازیات شوطونه پرېښودل نوترڅوچې داکس داطواف پوره نه کړي دښځوپه حق کې به دهیمشه دپاره محرم وي ولی چې طواف اکثرمتروک دی وللاکثرحکم الکل لهذا که داکس له تکمیل طواف وړاندي جماع وکړي نوپرده دم لازمیږي .

(۱۴۴)قوله اوترک اکثرالصدرای تجب شاة ایضاان ترک اکثرطواف الصدر،یعنی که چااکثرطواف صدرپرېښودی نوځرنگه چې طواف صدرواجب دی لهذاد ترک واجب یاترک اکثرالواجب په وجه سره دم لازمیږي.

ف: مصنف رحمه الله دطواف صدر ذکر وکړ مګر دطواف قدوم ذکر يې ونه کړ حال داچې دطواف قدوم هم هغه احکم دی کمالی الشامية: تنبيه: لم يصرحوا بحكم طواف القدوم لو شرع فيه وترک اکثره او الله والظاهر انه کالصدر لوجوبه بالشروع (ردالمحتار: ۲/۲۲۳)

(۱۴۵) قوله او طافه جنبا ای تجب شاة لو طاف طواف الصدر جنبا، يعنی که يې طواف صدر د جنابت په حالت کې اداء کړنو بيا هم پرده دم لازم دي ځکه چې طواف صدر په رتبه کې له طواف رکن څخه کم دی لهذا د طواف صدر په مذکوره صورتونو کې هغه واجب نه دي کوم چې د طواف زيارت په صورتونو کې واجب وو اظهار اللتفاوت.

(۱۴۶) قوله و صدقة بترک الله ای تجب صدقة بترک اقل طواف الصدر، يعنی که چا د طواف صدر دري له دي څخه لږ شوطونه پرېښودل نو ځکه چې جنايت لوی نه دی لهذ پرده صدقه لازمه ده نو د هر شوط په بدله کې د نصف صاع غنم ورکړي.

(۱۴۷) او طاف للرکن محدثا او للصدر طاهرا في آخر أيام التشريق (۱۴۸) و دمان لو طاف للرکن جنبا (۱۴۹) او طاف لعمرته وسعى محدثا ولم يعد (۱۵۰) او ترک السعي (۱۵۱) او أفاض من عرفات قبل الإمام

ترجمه: يايې طواف رکن بې اودسه وکړ او طواف صدر يې په اوداسه سره د ايام تشريق په اخر کې وکړ، او دوه دمه واجب دي که يې طواف رکن د جنابت په حالت کې وکړ، يايې طواف وکړ د عمري د پاره يا سعی وکړه دبې اودسې په حالت کې او نه دي راګرځولي دا، يايې سعی پرېښوده، ياکښته شو له عرفاته له امام څخه وړاندې.

تشريح: (۱۴۷) قوله او طاف للرکن محدثا ای تجب شاة ان طاف للرکن محدثا، يعنی که چا طواف زيارت بې اودسه اداء کړ او د ايام تشريق په اخر کې يې طواف صدر په اوداسه اداء کړنو پرده بالاتفاق يو دم واجب دي ولی چې په دې صورت کې طواف صدر د طواف زيارت طرف ته نشي منتقل کيدلی په دي وجه چې طواف صدر واجب دی او د طواف زيارت اعاده د حدث اصغر په وجه سره واجب نه ده بلکه مستحب ده په دي وجه طواف صدر د طواف زيارت طرف ته د منتقل کولو هيڅ ضرورت نشته بلکه طواف صدر به په خپل ځای وی او طواف زيارت به په خپل ځای وي البته په بې اودسې سره د طواف زيارت د اداء کولو په وجه يو دم واجبيږي.

ف: مصنف رحمه الله دا قيد ولګاوو چې طواف صدر د ايام تشريق څخه وروسته وکړي، په دي سره احتراز دی له هغه صورت څخه چې طواف صدر په ايام نحر کې وکړي ولی چې په دي صورت کې طواف صدر منتقل کيږي د طواف زيارت طرف ته نو د طواف زيارت په بې اودسه اداء کولو سره چې کوم دم واجب شوی وو هغه ساقطيږي ولی چې طواف صدر د طواف زيارت لورته د منتقليدلو په وجه سره ګوياده طواف زيارت په ايام نحر کې په طهارت سره اداء کړی دی لهذا دم نه واجبيږي، هو تر څو چې داکس په مکه مکرمه کې وي نو د طواف صدر اعاده دي وکړي کمالی الشامية: وان طاف للزيارة محدثا و للصدر طاهرا فان حصل فی ايام النحر انتقل الی الزيارة فيوان طاف للصدر ثانيا فلاشئ عليه والافعليه دم لترکه وان حصل بعد ايام النحر لاينتقل وعليه دم لطواف الزيارة محدثا ولو طاف للزيارة محدثا و للصدر جنبا فعليه دمان (ردالمحتار: ۲/۲۲۳)

(۱۴۸) قوله و دمان لو طاف للرکن جنبا ای يجب دمان الخ، يعنی که چا د جنابت په حالت کې طواف رکن اداء کړ او طواف صدر يې په طهارت سره د ايام تشريق په اخر کې اداء کړنو په دي صورت کې د امام ابو حنيفه

رحمه الله په نزد دوه دمه لازم دي او دصاحبينو په نزديو دم لازم واجب دی لوی چې په دي صورت کې په داسې حال کې چې طواف زيارت يې دجنابت په حالت کې اداء کړی دی طواف صدر دطواف زيارت طرف ته منتقل کيږي ولی چې طواف زيارت مع الجنابت بمنزله عدم دی ځکه خوبې اعاده هم واجب ده نو کله چې طواف زيارة مع الجنابت بمنزله عدم ده نو طواف زيارت کوم چې دايام تشريق په اخر کې شوی دی هغه به دطواف زيارت طرف ته په منتقل کولو سره داوويل شي چې دادطواف زيارت اعاده ده اوس گويا داکس دطواف صدر پريښودونکی شواو دطواف زيارت له ايام نحر څخه موخرکونکی شونويودم خودطواف صدر پريښودلو په وجه سره لازميږي په دي کې خودټولو اتفاق دی اودوهم دم دطواف زيارت دموخر کولو په وجه سره واجب دی دادامام ابو حنيفه رحمه الله قول دی .صاحبين څرنگه چې دتاخيرطواف زيارت په وجه سره ددم قائل نه دي په دي وجه ددوئ په نزديو دم لازم دی .هو په دي صورت کې داکس ترڅو چې په مکه مکرمه کې وي نوده ته دطواف صدر داعادی حکم دی ليکن وطن ته دواپس راتللو په صورت داحکم نشته اوکه يې دطواف صدر اعاده وکړه نو بيا بالاتفاق يو دم لازم دی .

ف:دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی ولی چې دااصحاب متونو ،شروحواواهل فتاوی اختيارکړی دی كمافي الهندية: اذاطاف للزيارة جنباوجبت عليه الاعادة فان طاف للصدرفي اخرايام التشريق على الطهارة وقع طواف الصدرعن طواف الزيارة وصار تاركالطواف الصدرفيجب عليه دم لتركه وهذابلاخلاف ويجب عليه دم اخرلتاخيرطواف الزيارة عندابی حنيفة هكذافي المحيط(هنديه: ۱/۲۴۶)

(۱۴۹)قوله اوطاف لعمرته معطوف دی پرهغوجناياتوباندی په کوموکې چې دم واجب دی ای يجب الدم لوطاف المعتمرلعمرته محدثا ،يعنی که محرم دعمري طواف اوسعی بې اودسه اداء کړل نوپرده دم لازم دی ولی چې ده طهارت پريښی دی کوم چې په طواف کې واجب دی .ليکن پرده دطواف اوسعی اعاده لازمه نه ده ولی چې دعمري درکن په اداء کولو سره دی حلال شواونقصان هم لږدی .اوپه اودسې سره په سعی کولو کې پرده هيڅ نشته ولی چې دسعی له داسې طواف څخه وروسته کړي ده کوم چې معتبردی اوخپله په سعی کې طهارت واجب نه دی .ليکن ترڅو چې په مکه کې وي دطواف اعاده دي وکړي ولی چې نقصان خو په هرصورت په کې راغلی دی ، بياکه ده اعاده وکړه نودده پرذمه به هيڅ واجب نه وي ولی چې داعادي په وجه سره نقصان رفع شو .

(۱۵۰)قوله اوترک السعی ،معطوف دی پرهغوجناياتو په کوموکې چې دم واجب دی ای تجب شاة لوترک السعی بين الصفاوالمروة ،يعنی کوم کس چې سعی بين الصفاکلاًيااکثراشواط پريږدي نودده حج پوره دی ولی چې سعی واجب ده په کوم سره چې فسادنه لازميږي البته دترک واجب ياترک اکثرالواجب په وجه سره دم لازم دی .

(۱۵۱)قوله اوافاض من عرفات ای تجب شاة لوافاض من عرفات الخ ،يعنی که کوم محرم له عرفات څخه تر امام وراندي يعنی له غروب شمس څخه وراندي راکښته شونوپرده دم لازم دی ولی چې ترغروب شمس پوري په عرفات کې پاته کيدل واجب دي اوکه له غروب څخه وروسته راکښته شونو هيڅ هم واجب نه دي.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزدله غروب شمس څخه وړاندي په راکښته کیدلوکي هم هيڅ نه واجبيږي ولی چي اصل وقوف رکن دی دوام رکن نه دی لهذادترک دوام په وجه سره هيڅ نه واجبيږي .امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چي دوام واجب دی ﴿ لقوله ﷺ فادفعوابعدغروب الشمس ﴾(له غروب شمس څخه وروسته راکښته شئ)فادفعواامردی اوامر دوجوب دپاره دی اودترک واجب په وجه سره دم واجبيږي لهذاله غروب شمس څخه وړاندي دراکښته کیدلوپه وجه سره دم واجبيږي(هدايه :۲۵۶/۱)

(۱۵۲)اوتَرْكُ الْوُقُوفِ بِالْمُزْدَلِفَةِ(۱۵۳)اوَرَمْيِ الْجِمَارِ كُلِّهَا(۱۵۴)اوَرَمْيِ يَوْمٍ(۱۵۵)اوأَخَرَ الْحَلْقَ اوطَوَافَ الرُّكْنِ(۱۵۶)اوحَلَقَ فِي الْحِلِّ(۱۵۷)وَدَمَانِ لَوْ حَلَقَ الْقَارِنُ قَبْلَ الذَّبْحِ

ترجمه :ياپي پريښودی وقوف دمزدلفي ،ياپي ټول رمی الجمار ،یادیوي ورځي رمی ،ياپي موخرکړ خريل ياطواف رکن، ياپي حلق وکړپه حل کي ،اودوه دمه واجب دي که حلق وکړقارن له ذبح څخه وړاندي .

تشريح :(۱۵۲)قوله اوترک الوقوف بالمزدلفة ای تجب شاة لوترک الوقوف بالمزدلفة .يعنی که چاوقوف مزدلفه بلاعذر پريښودی نوځرنګه چي وقوف مزدلفه واجب ده په دي وجه پرده دم واجب دی البته که يي دعذر(مثلاضعف، ناروغي، یاښځودرښ اوازدحام دخطرپه وجه)په وجه سره پريښودی توهيڅ نه لازميږي

(۱۵۳)قوله اورمی الجمارکلهاای ترک رمی الجمارکلها،يعني چاکه دټولوورځو(يعني دڅلوروسره ورځو)رمی جمرات پريښوده نوپرده باندي دم واجب دی ولی چي ترک واجب متحقق شوالبته دټولو دجنس ديوالی په وجه سره يودم لازم دی.

(۱۵۴)قوله اورمی يوم ای تجب شاة لوترک رمی الجمارفی يوم واحد،يعني که يي ديوي ورځي رمی پريښوده نوځرنګه چي دانسک تام دی اودنسک تام دپريښودلوپه وجه سره دم لازميږي په دي وجه دده پرذمه دم واجبيږي.

ف:که دعيدله ورځي څخه علاوه دباقي ورځوديوي جمري رمی پريښوده نوپرده دهري ډبري په بدله کي صدقه لازمه ده يعني نصف صاع غنم ياپوه صاع خرماوي لازمي دی ولی چي دپوره ورځي وظيفه ترک کول موجب دم دی نوله دي څخه کم موجب صدقه نه دی ،البته ديوم النحرپه ورځ که حاجی دجمره عقبه رمی پريښوده نوپرده دم لازم دی ولی چي پردي ورځ دجمره عقبه رمی نسک تام دی لهذاددي په پريښودلوسره دم واجبيږي .(هدايه :۲۵۶/۱)

ديوم الاضحی په اعمالوکي دترتيب حکم

(۱۵۵)قوله اواخرالحلق ای يجب الدم لواخرالحلق ،يعني که چاحلق رأس ياطواف رکن يعني طواف زيارت له ايام النحرڅخه مؤخرکړ(ياپي رمی جمرات مؤخرکړياپي يوحکم له بل حکم څخه مقدم کړحال داچي هغه حکما مؤخروو لکه له رمی جمرات څخه يي وړاندي سروخريبو)نوپه دي ټولوصورتونوکي دامام ابوحنيفه رحمه الله

په نزددم لازم دي ولی چې دابن عباس ﷺ قول دی چاچې کوم نسک تربل نسک مقدم کړنوپرده قرباني واجب ده .اودصاحبينوپه نزددنسک په تقديم اوتاخيرسره هيڅ نه لازميږي .

ف:دامام ابو حنيفه ﷫ قول راجح دی لماقال الامام الرافعی:فيجب الترتيب بين الرمی ثم الذبح ثم الحلق لغير المفرد وبين الرمی ثم الحلق له(التقرير الرافعی علی الشامية:۲/۱۵۶)

ف:دعيدپه ورځ حجاج کرام څلوراعمال کوي ،رمی ،قرباني ،حلق ،اوطواف زيارت ،په دي څلوروکې دامام صاحب ﷫ په نزدترتيب واجب دی اودصاحبينوپه نزدترتيب واجب دی ،دصاحبينودليل دادی چې کوم شی چې له خپل ځای څخه فوت کيږي دهغه تلافی په قضاء سره کيږي اودکوم شي تلافی چې په قضاء سره وشي په هغه کې له قضاء څخه ماسوابل کوم شی واجب نه وي نوپه نسک حج کې هم دتاخيرپه وجه سره له قضاء څخه علاوه کوم بل شی نه واجبيږي .دامام صاحب ﷫ دليل دادی کوم نسک چې له کوم مکان سره خاص وی هغه له مکان څخه په موخرکولوپرده دم لازميږي نوهمداشان کوم نسک چې له کومې زمانې سره خاص وي هغه له هغې زمانې څخه په موخرکولوسره هم دم واجبيږي .

(۱۵۶)قوله اوحلق فی الحل ای يجب الدم لوحلق فی الحل ،يعنی که حاجی له حرم څخه دباندي په حل کې (مراددای چې له حرم څخه دباندي وي خواه که په حل کې وي ياغيرحل کې وي)سروخريونوپرده دامام ابوحنيفه ﷫ په نزددم لازم دی ولی چې دحلق رأس دپاره زمانه هم متعينه ده چې په ايام نحرکې به وي اومکان هم متعين دی چې په حرم کې به حلق کوي لهذاکه چادوخت اومکان دواړومخالفت وکړنودوه دمه لازميږي اوکه يې ديوه مخالفت وکړنويودم لازميږي .

ف:دامام ابويوسف ﷫ په نزدځکه چې حلق مؤقت بالزمان والمکان نه دی ولی چې نبی کريم ﷺ له صحابه کرامو ﷺ سره په حديبيه کې محصرشواوټولوپه حديبيه يعنی غيرحرم کې سرونه وخريل لهذا له حرم څخه دباندي په سرخريولو کې هيڅ نه واجبيږي .امام ابويوسف ﷫ ته ځواب ورکړل شوی دی چې دحديبيې بعض حصه په حرم کې داخله ده ممکنه ده چې نبی کريم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ دي په همدي حصه کې سرونه خريلې وي .دامام صاحب قول راجح دی لمافی الدرالمختار:اوحلق فی حل بحج فی ايام النحرفلوبعدهافدمان(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۲۲۵)

ف:په عمره کې حلق په کومه زمانه پسې خاص نه دی بلکه په کوم وخت کې چې هم حلق وکړی بالاتفاق صحيح دی ولی چې عمره پخپله په کومه زمانه پسې خاصه نه ده ،هوعمره ځکه چې په مکان يعنی په حرم پسې خاصه ده لهذادطرفينوپه نزدحلق هم په مکان يعنی حرم پسې خاص ده .دامام ابويوسف ﷫ په نزدپه مکان پسې هم خاص نه دی ،نوکه معتمرله حرم څخه باهرشواوبيرته واپس راغی اوپه حرم کې يې حلق وکړنوبالاتفاق پرده هيڅ هم واجب نه دي .دطرفينوقول راجح دی لمافی الدرالمختار: اوحلق فی حل بحج فی ايام النحرفلوبعدهافدمان اوعمرة لااختصاص الحلق بالحرم ولادم فی معتمرخرج ثم رجع من حل الی حرم ،قال ابن عابدين :ای يجب دم لوحلق للحج اوالعمرة فی الحل لتوقته بالمکان وهذاعندهماخلافاللثانی (الدرالمختارمع الشامية:۲/۲۲۵)

(۱۵۷)که حج قران کونکي له قرباني ذبح کولوڅخه وړاندي سروخريونوپرده دامام ابوحنيفه ﷫ په نزددوه دمه دي يودم دحلق اوذبح ترمنځ دترتيب دپرېښودلوپه وجه دی ولی چې دحلق وخت له ذبح

شخصه ورو ستـه دی حال داچې ده له ذبح شخصه وړاندې کړی دی او دوهم دم قران دی .دصاحبينو په نزد مرف يو دم يعني دم قران واجب دی .

ف:د امام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی لماقال العلامة الحصكفي: ويجب دمان على قارن حلق قبل ذبحه دم للتاخير ودم للقران على المذهب (الدر المختار على هامش الشامية: ۲/۲۲۶)

فصل

په حالت احرام کې ښکار کول يو داسې جنايت دی کوم چې په ماقبل کې د ذکرشويو جنايتونو له نوع څخه مختلف دی په دې وجه سره يې داپه مستقل فصل کې ذکرکړی دی .اوځرنګه چې په دواړو قسمونو کې وحدت جنس شته په دې وجه يې دواړه تريوه باب لاندې ذکرکړل .

(۱۵۸) إن قتل محرم صيدا او دل عليه من قتله فعليه الجزاء (۱۵۹) وهو قيمة الصيد بتقويم عدلين في مقتله او اقرب موضع منه (۱۶۰) فيشتري بها هديا وذبحه إن بلغت قيمته هديا او طعاما وتصدق به كالفطر او صام عن طعام كل مسكين يوما (۱۶۱) وإن فضل اقل من نصف صاع تصدق به او صام يوما

ترجمه:که قتل کړ محرم ښکار يايې ورو ښودی هغه کس ته کوم چې ښکار قتل کړنو پر ده جزاء شته ،او هغه قيمت دی د ښکار کوم چې دوه عادلان مقرر کړي د هغه د قتل کولو په ځای کې ،يا هغه ته په نږدې ځای کې نو وادې خلی په هغه سره هدی او ذبح دې کړي که يې قيمت هدی ته رسيد ويا دې طعام واخلي او صدقه دې کړي د فطرې په شان يا دې روژه ونيسي د هر مسکين د طعام په عوض يوه ورځ ،او که زيات شول له نصف صاع څخه لږ نو هغه دې خيرات کړي يا دې روژه ونيسي يوه ورځ .

تشريح:(۱۵۸)که محرم د وچې(خشکی) ښکار قتل کړيايې قاتل ته ورو ښودی هغه قتل کړ حال داچې قاتل ته له وړاندې څخه معلوم نه وو نو پر محرم قاتل او ښکار ورښودونکې دواړو باندې جزاء لازمه ده لقوله تعالى ﴿ لا تقتلوا الصيد وانتم حرم ومن قتله منكم متعمدا فجزاء مثل ما قتل من النعم ﴾(يعني تاسې ښکار مه قتلوئ په داسې حال کې چې تاسې محرم ياست او که له تاسې څخه يې څوک قتل کړي په قصد سره نو پر ده بدله ده د دې قتل شوي په برابر له څارويو څخه). اوپه ورښودونکې باندې په دې وجه جزاء لازمه ده چې له حضرت قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی ﴿ انه اصاب حمار وحش وهو حلال واصحابه محرمون فقال النبي ﷺ لاصحابه هل اشرتم هل دللتم هل اعنتم فقالوا لا فقال اذا فكلوا ﴾(ابو قتاده رضي الله عنه فرمايې چې ما وحشي حمار ښکار کړ په داسې حال کې چې زه حلال وم او ما ملګري محرم وو بيا نبی کريم ﷺ دوئ ته ووېل ،اياتاسې اشاره وکړه ؟اياتاسې دلالت وکړ؟اياتاسې اعانت وکړ؟هغوئ ووېل :يا،نو نبی کريم ﷺ وفرمايل: بيايې نوخورئ) وجه استدلال داده چې که دلالت د ښکار په تحريم کې مؤثر نه وای نو نبی کريم ﷺ به ولې د هغه په باره کې پوښتنه کوله. هم داراز د ښکار دلالت کونکې د ښکار امن فوت کړی دی ولی چې ښکار د خپل وحشي والی او د خلګو له نظرونو څخه د پټ او سيدلو په وجه سره په امن کې دی او د دلالت په وجه سره امن زائليږي.

ف:بيا په دې کې د اشان تعميم دی چې محرم قاتل او ښکار ورښودونکې ته احرام يادوي قصداً قتل او دلالت کوي يا احرام يادنه وي ولی چې دا اتلاف دی نو دا د مالي غراماتو سره مشابه دی .او برابر دی که يې اول ځل

ښکارکړی وي یاعائدیعنی دوهم ځل یادریم ځل ښکارکونکی وي ولی چې موجب تاوان کوم چې صید تلف کول دی په ابتداء اوعودکولوسره نه مختلف کیږي بلکه چې څرنګه یې هم تلف کړي جزاء واجبیږي کمافی الدرالمختار: اودل علیه قاتله بدأاوعوداسهوااوعمدامباحااومملوکاقعلیه جزاؤه (الدرالمختارعلی الشامیة: ۲/۲۳۱)

ف: صیدهغه حیوان دی کوم چې دخپل اصل خلقت په اعتبارسره وحشي وي اودخپلوپښویاوزرونوپه ذریعه سره خپل حفاظت کوي .بیاصیدپردوه قسمه دی ،بری،بحری ،بری هغه دی دکوم چې توالد اوتناسل اواوسیدل په وچه کې وي اوبحری هغه دی دکوم چې توالداوتناسل اواوسیدنه په اوبوکې وي.بیابحری ښکاردمحرم اوغیرمحرم دواړودپاره حلال دی لقوله تعالی ﴿احل لکم صیدالبحروطعامه متاعالکم وللسیارة﴾ (حلال کړل شوی دی ستاسې لپاره دبحرښکار اودبحر خوراک ستاسې دفائدي لپاره اودټولو مسافرولپاره) اوبری دمحرم لپاره حرام دی لقوله تعالی ﴿لَاتَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ﴾ (یعنی تاسې ښکارمه کوئ په داسې حال کې چې تاسې محرم یاست).البته هغه حیوانان له دي څخه مستثنی دي کوم چې دموذی والی (ضرررسولولو) په سبب نبی کریم ﷺ دهغوئ دوژلوحکم کړی دی .

(۱۵۹) دښکارجزاء دښکارقیمت دی کوم چې دوه عادل کسان مقررکړي دراصل په جزاء کې دائمه واختلاف دی دشیخینورحمهما الله په نزددښکارمثل معنوي یعنی قیمت لازم دی ولی چې دمثل معنوي په مرادولوکې تعمیم دی هغه ښکارته هم شامل دی دکوم چې نظیروي اوهغه ته هم شامل دی دکوم چې نظیرنشته .اوپه کوم ځای کې چې یې ښکارقتل کړی وي په هغه کې به دښکارقیمت لګوي که یې په دیهات کې قتل کړی وي نوپه نژدې اباديي کې دي قیمت معلوم کړي ولی چې په اختلاف امکنه سره قیمتونه هم مختلف کیږي .قیمت به هم دوه داسې عادل کسان ایږدي کوم چې دښکارپه قیمت لګولوکې بصیرت لري اعتبارابحقوق العباد .

ف: له عادل څخه مراددلته داسې شخص دی کوم ته چې دښکارپه قیمتونوکې بصیرت حاصل وي هغه عادل مرادنه دی کوم چې دشهادت په باب کې معتبردی کمافی الشامیة: والمرادبالعدل من له معرفة وبصارة بقیمة الصیدلاالعدل فی باب الشهادة (ردالمحتار: ۲/۲۲۲)

ف: دامام شافعی رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په نزدمحرم چې کوم ښکاروژلی دی که دهغه صورة مثل وي نومثل صوری دي ورکړي لقوله تعالی ﴿فَجَزَاءٌ مِثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ﴾ (یعنی نوجزاء ده په مثل دهغه کوم چې یې قتل کړی دی له حیواناتو څخه) لهذادهوسۍ اوګورکښ (یوقسم غوښنه خوړونکی حیوان دی کوم چې تول ورځ په غارکې اوسیږي اودشپې دباندي راوځي اوسترګې یې ډیري کوچنۍ کوچنۍ وي) په بدله کې پسه لازم دی.دسوئ په بدله کې عناق (دپسه دشپږمیاشتوبچې) دی.دشترمرغ په بدله کې اوښ دی .دیربوع یعنی ځنګلي موږک په بدله کې جفره (یعنی دپسه دڅلورو میاشتوبچی)دی. اودکوم ښکارکه مثل صوري نه وو لکه مرغۍ ،کوتره وغیره نودمثل صوري اومثل معنوي دواړو دمجموعې دتعذرپه وجه سره دامام محمد رحمه الله په نزدصرف مثل معنوي یعنی قیمت لازم دی .دشیخینودلیل دادی چې په ایت شریف کې له مثل څخه مثل معنوي مراددی ولی چې مثل معنوي په شریعت کې معهوداومعروف دی ،همداراز په کوموحیواناتوچې نظیرنشته په هغوکې امام محمد رحمه الله هم مثل معنوي یعنی قیمت واجبوي ،همداراز

دمثل معنوي اخيستلوپه صورت كې تعميم دى ولى چې په دي وخت كې ايت مبارك هغوحيواناتوته هم شامليږي دكوموچې نظيرشته اوهغوته هم شامليږي دكوموچې نظيرنشته حال داچې دمثل صوري داخيستلوپه صورت كې صرف هغوحيواناتوته شامليږي دكوموچې نظيرشته لهذامثل معنوي مرادول اولى دى .

ف :دشيخينوقول راجح دى لماقال العلامة الحصكفي :والجزاء هوماقومه عدلان في مقتله اوفي اقرب مكان منه ان لم يكن في مقتله قيمة فأوللتوزيع لاللتخيير ,قال ابن عابدين :واطلق في كون الجزاء هو القيمة لتشمل الصيدالذى له مثل وغيره وهوقوله وخصه محمدبماالامثل له فأوجب فيماله مثل مثله الخ (الدرالمختارمع الشامية:۲/۲۳۲)

(۱۶۰)بيادطرفينوپه نزدچې كوم قيمت پرقاتل باندي لازم شې په هغه كې دده لره اختيار دى كه داقيمت دومره وي چې په دي سره پسه وغيره اخيستل كيداى شونوپسه وغيره دي واخلي اوپه حرم كې دي ذبح كړي .اوكه يې خوښه وي نوپه دي قيمت سره دي غله واخلي هرمسكين ته دي دصدقه فطرپه شان نصف صاع غنم يايوه صاع خرماوي يااوربشې وركړي اوكه يې خوښه وي دهرنصف صاع غنموپه بدله كې دي يوه ورځ روژه ونيسي لقوله تعالى ﴿ لَاتَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ وَمَنْ قَتَلَهُ مِنْكُمْ مُتَعَمِّدًا فَجَزَاءٌ مِثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِنْكُمْ هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَلِكَ صِيَامًا لِيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِ ﴾ (اوكوم څوک چې له تاسې څخه دى قتل كړي په قصدسره نوبرده بدله ده ددي وژل شوي په برابرله څارويو څخه كوم چې تجويزكړي دوه كسان معتبرله تاسې څخه په دي ډول چې هغه دبدلې څاروى دي دنيازپه طورسره كعبې ته ورويسول شي ياپرده كفاره ده خومحتاجانوته خوراک وركول يادې برابرروژي ترڅوچې وڅكې سزادخپل كار).

(۱۶۱)اوكه په اخركې له نصف صاع غنموڅخه لږغنم پاته شول مثلاربع صاع پاته شول نوده لري اختيار دى كه يې خوښه وي نوربع صاع غنم دي صدقه كړي يادي ددي په بدله كې هم يوه ورځ روژه ونيسي .روژه دنصف صاع غنموپه بدله كې ده مګردلته دربع صاع په بدله كې هم ديوې كاملې ورځې نيولوحكم دى نووجه يې داده چې له يوې ورځې څخه كم روژه مشروع نه ده .

(۱۶۲)وَإِنْ جَرَحَهُ أَوْ قَطَعَ عُضْوَهُ أَوْ نَتَفَ شَعْرَهُ ضَمِنَ مَا نَقَصَ مِنْهُ (۱۶۳)وَتَجِبُ الْقِيمَةُ بِنَتْفِ رِيشِهِ وَقَطْعِ قَوَائِمِهِ وَحَلْبِهِ (۱۶۴)وَكَسْرِ بَيْضِهِ وَخُرُوجِ فَرْخٍ مَيِّتٍ بِهِ (۱۶۵)وَلَاشَيْءَ بِقَتْلِ غُرَابٍ وَحِدَأَةٍ وَذِئْبٍ وَحَيَّةٍ وَعَقْرَبٍ وَفَأْرَةٍ وَكَلْبٍ عَقُورٍ وَبَعُوضٍ وَنَمْلٍ وَبَرْغُوثٍ وَقُرَادٍ وَسُلَحْفَاةٍ

ترجمه : اوكه يې ښكارزخمي كړيايې پري كړدهغه اندام يايې پري كړي دهغه ويښتې نوضامن دى دهغه نقصان چې په ده كې راغلى دى ،اوواجبيږي قيمت دهغه دوزرپه پري كولوكې اودهغه دپښوپه پري كولوكې اودهغه دشيدوپه رالوښلوكې ،اودهغه دهګۍ په ماتولوسره اودمړه بچې په راتلوسره دهګې په ماتولوكې ،اوهيڅ واجب نه دي دكارګه ،تپوس ،لړم ،موږک ،خروړي سپي ،غوماشى ،ميږى ،كيكه ، بيزوګى ،اوكيشف په وژلوسره .

تشريح:(۱۶۲)يعنى كه محرم ښكارزخمي كړيايې دښكارښې وكښلې يايې دښكاركوم اندام وربري كړمګراوس هم هغه دخپل حفاظت قابل وو نوددي زخم وغيره په وجه سره چې دښكارپه قيمت كې څومره نقصان راغلى دى ښكاركونكى دهغه ذمه داردى دبعض پركل په قياسولوسره كمافي حقوق العباد .ليكن داهغه وخت دى چې ښكارله همدي زخم څخه مړنه شي اوكه هغه مړشونوبيامحرم دټول قيمت ضامن دى .

ن: داهم شرط دی چې محرم دقطع عضو قصد کړی وي که نه نو هیڅ نه لازمیږي مثلاً محرم له پښې ځخه کونړه خلاصوله چې په دي سره دهغې کوم عضوپرې شونوپرمحرم باندي هیڅ واجب نه دي همداحکم دهرهغه قتل چې په هغه سره اصلاح مقصود وي کمافی شرح التنویر: (ووجب بجرحه ونتف شعره وقطع عضوه مانقص) ان لم یقصد الاصلاح فان لقصده کتخلیص حمامة من سنور او شبکة فلاشی علیه وان ماتت (ردالمحتار: ۲/۲۳۴)

(۱۶۳) که محرم دمرغه وزروکښل یایې دښکارښې وریري کړي دکوم په وجه سره چې ښکاردخپل حفاظت قابل نه شوپاتې نوپه محرم ددي ښکاردټول قیمت ذمه واردی ولې چې دآله حفاظت په ضائع کولوسره ښکاري دښکارامن فوت کړنوګویاښکاریې ضائع کوپه دي وجه سره دټول قیمت ذمه واره وی. قوله وحلبه ای تجب قیمة لبن الصید، یعنی دښکاردشید وپه ضائع کولو کې هم قیمت لازم دی ولې چې شیدي دښکارله اجزاء ځخه دي نوجزء په کل قیاسیږي.

(۱۶۴) قوله وکسر بیضه ای تجب القیمة بکسر بیضه ، یعنی که کوم محرم دښکارداسې هګۍ ماته کړه کومه چې خرابه نه وه نوپرده دهغه قیمت لازم دی ولې چې هګۍ دښکاراصل دی په کوم کې چې دښکار دجوړیدلوصلاحیت شته لهذا احتیاطاً هګۍ دښکارپه منزله کې ده. قوله وخروج فرخ میت ای تجب القیمة فی خروج فرخ میت ، یعنی که محرم هګۍ ماته کړه اوله هغې ځخه مړبچی راووتی اودانه شوه معلومه چې به ماتیدلوځخه وړاندي مړشوی دی اوکه وروسته نوپرده دژوندي بچې قیمت لازم دی ولې چې کیدای شي چې داژوندی پیداشوی وای مګردراوتولوله وخت ځخه وړاندي دماتیدلوپه وجه سره مړشو.

(۱۶۵) یعنی محرم که مردارشیان خوړنکی کارګه ، ټپوس، مار، لړم ، موږک ، خوږوړی سپی ، غومابنی ، میږی، کیکه ، بیزوګی یاکیشف قتل کړنوپرقاتل هیڅ جزاء نشته ولې چې مارلړم سپی وغیره موذی شیان دي په دي وجه په دوئ کې جزاء نشته ، دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدوحشی مانوس اوخوږوړی اوغیرخوږوړی هرقسم سپیان په عدم جزاء کې سره برابردي ولې چې ددي ټولوجنس یودی اوپه دي باب کې وحدت جنس معتبردی ، اوپه غومابنې وغیره نورحشرات الارض کې هیڅ قسم جزاء نشته ولې چې داشیان نه ښکاردي اوندله انساني بدن ځخه پیداشوی دي.

(۱۶۶) وَبِقَتْلِ قَمْلَةٍ وَجَرَادَةٍ تَصَدَّقَ بِمَا شَاءَ (۱۶۷) وَلَا يُجَاوِزُ عَنْ شَاةٍ بِقَتْلِ السَّبُعِ (۱۶۸) وَإِنْ صَالَ لَا شَيْءَ بِقَتْلِهِ (۱۶۹) بِخِلَافِ الْمُضْطَرِّ (۱۷۰) وَلِلْمُحْرِمِ ذَبْحُ شَاةٍ وَبَقَرَةٍ وَبَعِيرٍ وَدَجَاجَةٍ وَبَطٍّ أَهْلِيٍّ (۱۷۱) وَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ بِذَبْحِ حَمَامٍ مُسَرْوَلٍ وَظَبْيٍ مُسْتَأْنَسٍ (۱۷۲) وَلَوْ ذَبَحَ مُحْرِمٌ صَيْدًا حَرُمَ وَغَرِمَ بِأَكْلِهِ (۱۷۳) لَا مُحْرِمٌ آخَرُ

ترجمه: اودسپږي اوملخ په قتل کولوکې دي صدقه وکړي چې ځومره یې خوښه وي ، اوله پسه ځخه دي تجاونه کوي دځناورپه قتل کولوکې ، اوکه ځناورحمله وکړه نوپرده هیڅ واجب نه دي دهغه په وژلوکې ، په خلاف دمضطر، اودمحرم دپاره جائزدي دپسه ، اوغوا، اواوښ ، اوچرګې اوکورنی هیلی ذبح کول ، اوپرده جزاء ده دپاموزکوتري اومانوسې اوسی په ذبح کولوکې ، او که محرم ښکارذبح کړنوهغه حرام دی اوتاوان به ورکوي دهغه په خوړلوسره ، نه بل محرم.

تشریح: (۱۶۶) چاکه سپږه مړه کړه نوځومره چې یې خوښه وي صدقه دي وکړي مثلاً یوموټ غله یاددودی یوه ټوټه وغیره دي ورکړي ولې چې سپږه دوینځتانوپه شان له بدن ځخه پیداکیږي نودهغې په لیري کولوکې

دخيروليري كول متحقق كيږي لهذا صدقه لازمه ده ،اوهمدا حكم دملخ دقتل كولو هم دى ځكه چې ملخ برى (په وچه كې اوسيدونكى) ښكاردى حضرت عمر ﷺ فرمايلي دي ،تمرة خير من جرادة (يوه خرماله ملخ څخه ښه ده)لهذا يوه خرما وركول كافي ده .

ف:سپږه كې له خپل بدن څخه ليري كړه اومړه يې كړه نومذكوره بالاصدقه دي وكړي .اوكه سپږه پرځمكه لويدلې وه نودهغې په وژلو كې هيڅ واجب نه دي كمافي الجوهرة النيرة :هذا اذا اخذها من بدنه اورأسه اوثوبه اما اذا اخذها من الارض فقتلها فلاشئ عليه (جوهرة النيرة: ۱/۲۲٦)

(۱٦۷)كه چاځناورقتل كړنوپرده جزاء لازمه ده يعنى دده قيمت به معلوم كړي اووربه يې كړي مګرداقيمت به ديوه پسه له قيمت څخه زيات نه وي ولى چې دځناورقتل دوينې تويولوپه وجه سره حرام اوموجب جزاء دى دهغه دغوښې دفاسدولوپه وجه سره نه دى ځكه چې دى غيرماكول دى اودوينې تويولوپه وجه سره صرف دم واحد واجبيږي .البته په مأكول اللحم كې څرنګه چې فسادلحم هم شته نودهغه قيمت به واجب وي څومره چې هم وي .

ف:پورته ذكرشوى حكم په هغه وخت كې دى چې ځناوردچامملوک نه وي كه نه نو ددرندي دوه قيمتونه لازميږي .يوبه مالک ته وركوي اوپه دي كې تحديدهم نشته بلكه دپسه له قيمت څخه زياتيداى هم شي ،اودوهم قيمت به دالله تعالى دحق په وجه سره وركوي داقيمت به دپسه له قيمت څخه زيات نه وي كمافي الشامية: كذالوكان معلما لايضمن مازاد بالتعليم لحق الله تعالى اما لوكان مملوكا فيضمن قيمة ثانية لمالكه معلما (ردالمحتار: ۲/۲۳۳)

ف:امام زفر رحمه الله ځناوربه مأكول اللحم حيوان باندي قياسوي فرمايي دځناورچې څومره قيمت وي هغه به وركوي كه څه هم دپسه له قيمت څخه زيات وي.احناف وايي چې دځناورقيمت دپوست په لحاظ سره له پسه څخه نه زياتيږي اوپه حق ضمان كې پوست معتبردى دغوښې اعتبارنشته ولى چې غوښه خوپې فاسده ده دكومې چې اعتبارنشته ،لهذا دسلاطينو دتفاخرپه وجه سره كه دكوم ځناورقيمت زيات شي نودهغه اعتبارنشته .

(۱٦۸)يعنى كه په كوم محرم باندي ځناورحمله وكړه نوكه له قتل كولو څخه ماسوا بله ددفاع كومه چاره نه وه نوپه قتل كولوسره يې په محرم باندي هيڅ جزاء نشته ولى چې محرم كه څه هم له تعرض ښكارڅخه ممنوع دى مګرله دفع دا ذى څخه ممنوع نه دى .

ف:امام زفر رحمه الله فرمايي چې په حمله كولوسره دځناورعصمة نه زائليږي لكه چې كه دچا اوښ پرچاحمله وكړه نودا اوښ په قتل كولو كې قاتل ضامن دى .احناف ځواب وركوي چې په حمله كولوسره ځناوردمار،لړم وغيره موذى حيوانانوپه شان ګرځي دكوم په وژلو كې چې ضمان نشته .

(۱٦۹)كه محرم دښكاردغوښې په خوړلومجبورشونودقتل كولواوخوړلوپه صورت كې پرده جزاء لازمه ده ولى چې دالله تعالى په ارشاد ﴿ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ﴾ (يعنى كوم كس چې له تاسې څخه مريض وي يا ده لره له سرڅخه ايذاء وي نوپرده فديه واجب ده په روژه نيولوسره ياپه صدقه وركولوسره ياپه قرباني كولوسره)كې دممنوعات احرام دارتكاب جوازمقيد بالفديه دى

دا ایت که څه هم دمعذور حالق په باره کې نازل شوی دی مګرپه دلالة النص سره په معذورحالق پسې مضطرهم ملحق کړل شوی دی.

ف: که مضطرژوندی ښکار وموندا و دمسلمان مال یې وموندنودی دي ښکاوخوري دمسلمان مال دی نه خوري ولی چې ښکاردالله تعالی دحق په وجه سره حرام دی اومال مسلم دبنده دحق په وجه سره حرام دی نودحفاظت په اعتبارسره ترجیح دبنده حق ته حاصله ده ولی چې بنده محتاج دی او الله تعالی غني دی.

(۱۷۰)قوله وللمحرم ذبح شاة ای یجوز للمحرم ذبح شاة الخ ،یعنی که محرم پسه یاغوایا اوښ یاچرګه یاکورنی ایلی (له کورنی ایلی څخه مرادهغه ایلی ده کومه چې نه الوزي)ذبح کړه نوپرذابح (ذبح کونکې)باندې هیڅ جزاء نشته ولی چې دمحرم لپاره ښکارکول ممنوع دی حال داچې مذکوره بالاشیان په کورونوکې اوسیږي ښکارنه دي په دي وجه په ذابح باندې جزاء نشته.

(۱۷۱)قوله وعلیه الجزاء ای یجب الجزاء علی المحرم ،یعنی که محرم پاموزکوتره (دکومې په پښوباندې چې ویښتان وي) یامانوسه اوسی ذبح کړه نوپرقاتل باندې جزاء لازمه ده داپه دې وجه سره چې دادخپل اصل خلقت په لحاظ سره وحشي اوښکاردي دعارضي انس په اعتبارسره ددوئ ذبح کول جائزنه دي لهذاددوئ په ذبح کونکي باندې جزاء لازمه ده.

(۱۷۲)که محرم ښکارذبح کړنودده ذبیحه مرداره ده خوړل یې جائزنه دي ولی چې ذبح کول مشروع فعل دی اودافعل حرام دی لهذادامشروع ذبح نه شمارل کیږي .که ذبح کونکې محرم له خپلې ذبیحې څخه څه خوراک وکړه سره له دې چې ددې مردارخوراک حرام دی نوپرده دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدددومره اندازې غوښې قیمت واجب دی څومره چې ده خوړلې ده .صاحبین فرمایي چې له استغفار ماسواپرده هیڅ شی واجب نه دی ولی چې دمحرم داذبیحه مرداره ده اومردارپه خوړلوکې له استغفار څخه ماسواڅه تاوان نه واجبیږي .دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې دمحرم دذبیحې حرمت په دوه اعتباره سره دی یوخوله په دې وجه چې دده ذبیحه مرداره ده اوبل په دې وجه سره چې داذبیحه داحرام له ممنوعاتو څخه ده ولی چې دده احرام دښکارحیوان له محل ذبح څخه ایستلی دی اوهمدې احرام محرم دذبح له اهل والی څخه ایستلی دی نوپه دې واسطوسره دده ذبیحې حرمت دده داحرام طرف ته منسوب دی نوثابته شوه چې دمحرم له خپلې ذبیحې څخه خوراک داحرام له ممنوعاتو څخه دی اوداحرام له ممنوعاتو څخه دکوم ممنوع دارتکاب په وجه سره جزاء واجبیږي په دې وجه پرده ددې خوړل شوي غوښې قیمت بطورضمان واجب دی.

ف: دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الهندیة :وان اکل بعدماادی الجزاء فعلیه قیمة مااکل فی قول ابی حنیفة رحمه الله (هندیة:۱/۲۵۱)

(۱۷۳)اوکه له مذکوره بالاذبیحې څخه کوم بل محرم څه وخوړل نوباتفاق احناف پرده هیڅ هم واجب نه دي ولی چې دده خوړک دده داحرام له ممنوعاتو څخه نه دی لهذاپرده په ضمان هم واجب نه وي.

ف: دامام شافعي رحمه الله په نزدکه محرم دکوم غیرمحرم لپاره ښکارذبح کړنوددې غیرمحرم لپاره داذبیحه حلال ده ولی چې ذبح کول حقیقة موجوددي لهذادابه په حلت کې موثره وي البته دذابح لپاره حلال نه ده ولی چې ده دمنهی عنه عمل ارتکاب کړی دی .داحنافو دلیل دادی چې الله تعالی دمحرم ذبح ته قتل ویلې

دی لکه چې فرمايي ﴿ لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ ﴾ نو د محرم ذبح کول ذبح نه شمارل کيږي نو کله چې د محرم ذبح کول ذبح نه ده نو دده ذبح مردار ده او د مردار خورک د هيچا د پاره جائزنه دی .

(۱۷۴) وَحَلَّ لَهُ لَحْمُ مَا صَادَهُ حَلَالٌ وَذَبَحَهُ إِنْ لَمْ يَدُلَّ عَلَيْهِ وَلَمْ يَأْمُرْهُ بِصَيْدِهِ (۱۷۵) وَبِذَبْحِ الْحَلَالِ صَيْدَ الْحَرَمِ قِيمَتُهُ يَتَصَدَّقُ بِهَا لَا صَوْمٌ (۱۷۶) وَمَنْ دَخَلَ الْحَرَمَ بِصَيْدٍ أَرْسَلَهُ (۱۷۷) فَإِنْ بَاعَهُ رُدَّ الْبَيْعُ إِنْ بَقِيَ وَإِنْ فَاتَ فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ (۱۷۸) وَمَنْ أَحْرَمَ وَفِي بَيْتِهِ أَوْ قَفَصِهِ صَيْدٌ لَا يُرْسِلُهُ

ترجمه: او حلاله ده د محرم لپاره (دهغه ښکار غوښه) کوم چې ښکار کړي حلال کس او ذبح يې کړي که محرم ښکار ور ښودلی نه وي او نه يې امر کړی وي د ښکار کولو ، او واجب ده د حلال کس په ذبح کولو سره د حرم ښکار له د هغه قيمت کوم چې به دی خيرات کوي نه روژې ، او کوم کس چې داخل شي حرم ته له ښکار سره نو هغه دې پريږدي ، نو که يې خرڅ کړ نو بيع دې رد کړي که ښکار باقی وو او که مړ شوی وي نو پر ده جزاء شته ، او کوم کس چې احرام و تړي او د هغه په کور کې يا په قفص کې ښکار وي نو هغه دې نه پريږدي .

تشريح: (۱۷۴) که کوم غير محرم له حرم څخه د باندې ښکار وکړ نو محرم ته د هغه غوښه خوړل جائز ده په دې شرط چې دې محرم به غير محرم ښکار ته په دلالت کولو سره ښکار نه وي ور ښودلی او نه به يې د ښکار حکم ورته کړی وي ولې چې صحابه کرامو ﷺ د محرم به حق کې د ښکار د غوښې د خوړلو په باره کې مذاکره وکړه نو نبی کريم ﷺ وفرمايل لاباس به (يعنی په دې کې څه حرج نشته).

ف: امام شافعي او امام مالک رحمهما الله تعالى فرمايي چې که غير محرم د محرم د پاره ښکار وکړ نو محرم ته د دې خورک جائز نه دی لقوله ﷺ ﴿ الصَّيْدُ حَلَالٌ لَكُمْ مَالَمْ تَصِيدُوهُ أَوْ يُصَادُ لَكُمْ ﴾ (يعنی ښکار حلال دی په دې شرط چې تاسې يې خپله ښکار نه کړي يا ستاسې د پاره ښکار نه کړل شي). احناف ځواب ورکوي چې دا په دې صورت باندې محمول دی چې ښکاري د محرم په ويناسره ښکار وکړي ولې چې حضرت قتاده ﷺ د خپل ځان او ملګرو لپاره حمار وحشی ښکار کړی وو بيا نبی کريم ﷺ د دوا رو د پاره خوراک مباح ګرځولی وو .

(۱۷۵) قوله وبذبح الحلال صيد الحرم ای تجب قيمة بذبح الحلال صيدالحرم ، يعنی که غير محرم د حرم ښکار ذبح کړ نو پر ده د ښکار د قيمت په اندازه سره جزاء لازمه ده هغه به په فقراؤ صدقه کوي ولې چې ښکار د حرم په سبب سره د امن مستحق وو ښکاري دده امن برباد کړ. او که دا کس د ښکار د قيمت په عوض کې روژې نيول غواړي نو دا جائز نه ده ولې چې د ښکار قيمت يو تاوان دی کفاره نه ده په دې وجه دا د مالی تاوان سره مشابه ده او مالی تاوان که څوک په روژو سره اداء کول غواړي نو نه اداء کيږي .

(۱۷۶) که کوم کس خواه که محرم وي او که غير محرم وي د ښکار له حيوان سره حرم ته داخل شو نو هغه حيوان که دده په لاس کې وي په حرم کې يې پريښودل واجب دي ولې چې دا اوس د حرم ښکار شو او د حرم د ښکار والی په سبب سره د امن مستحق شو لهذا د دې پريښودل ضروري ده تر څو دده امن برحال شي .

ف: د امام شافعي او امام مالک په نزد د داسې ښکار پريښودل لازم نه دي ولې چې پريښودل د شريعت حق دی او ښکار د مالک حق دی او د شريعت حق د چا د مملوک شي په باره کې نه ظاهره کيږي ځکه چې بنده محتاج دی . احناف ځواب ورکوي چې حرم شريف ته د ښکار په داخلولو سره هغه د امن مستحق ګرځي لقوله تعالى ﴿ وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا ﴾ لهذا د هغه پريښودل لازم دی ولې چې په مقيد ساتلو کې د هغه امن نه برحاله کيږي .

(۱۷۷)چاكه ښكار حرم ته داخل كړاوخرڅ يې كړنو دابيع دي ردكړي په دي شرط چې هغه ښكار به موجودوي ولى چې دابيع ناجائزه ده په دي وجه چې په دي كې ښكارته تعرض شوى دى اوښكارته په حرم شريف كې تعرض كول حرام دى لهذابيع هم ناجائزه ده په دي وجه ددي ردكول واجب دي .اوكه ښكارمړشونوپه خرڅونكې باندي دده تاوان اداء كول واجب دى يعنى دده قيمت دي صدقه كړي ولى چې دبيع ردكول خودښكاردمړه كيدلوپه وجه سره اوس متعذرشوفنزل منزلة الاتلاف .

(۱۷۸)كه چاحرام وتاړه په داسې حال كې چې دده په كوركې ياپه پنجره كې له ده سره دښكارحيوان وو نوددي ښكار پريښودل واجب نه دي ولى چې په محرم خوښكارته تعرض كول حرام دي حال داچې محرم خوپه دي صورت كې ښكارته متعرض نه دى ولى چې دښكارحيوان خوپه كوركې محفوظ دى ياپه پنجره كې محفوظ دى .

ف:دامام شافعى رحمه الله په نزدپه دي صورت كې هم دښكارارسال لازم دى ولى چې په خپل ملك دښكارساتلوپه وجه سره داكس ښكارته تعرض كونكى شمارل كيږي .احناف ځواب وركوي چې صحابه كرام ﷺ به حج ته تلل اودهغوئ به كورونوكې به له سوائموڅخه ماسوانورحيوانان موجودول اودامنقول نه ده چې هغوئ به داحيوانان پريښودل اوپرهمدي باندي ترننه ورځې پوري دامت عملي اجماع ده لهذاداسې ښكارپريښودل لازم نه دي .

(۱۷۹)ولو أخذ حلال صيدا فأحرم ضمن مرسله (۱۸۰)ولو أخذه محرم لا يضمن (۱۸۱)فإن قتله محرم آخر ضمنا ورجع آخذه على قاتله (۱۸۲)فإن قطع حشيش الحرم أو شجرا غير مملوك ولا مما ينبته الناس ضمن قيمته إلا فيما جف (۱۸۳)وحرم رعي حشيش الحرم وقطعه إلا الإذخر

ترجمه :اوكه ونيوى حلال كس ښكارلره بيايې احرام وتاړه نوضامن دى دهغه پريښودونكى ،اوضامن نه دى كه ونيولي وو هغه كوم محرم ،بياكه قتل كړهغه كوم بل محرم نودواړه ضامنان دي اورجوع به كوي نيونكى پردي قاتل باندي ،اوكه يې بري كړل دحرم وابنه يادرخت غيرمملوكه اوهغه داسې وه چې خلګونه كرله نوضامن دى دهغه دقيمت مګركه وچ وو ، اوحرام دى دحرم په وبنو كې څرول اودهغوپري كول مګراذخرنومي وابنه .

تشريح :(۱۷۹)كه كوم غيرمحرم ښكارونيوى بياده احرام وتاړه بياكوم بل چادي محرم له لاس څخه ښكاروااخيستى اوازاديې كړنودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدښكارپريښودونكى دمالک دپاره ضامن دى صاحبين فرمايي چې ضامن نه دى ولى چې پريښودونكې آمربالمعروف وناهى عن المنكردى كوم چې يونيک كاردى چې دهغه په باره كې ارشادبارى تعالى دى ﴿ ماعلى المحسنين من سبيل ﴾(يعنى كوم چې نيک كاركونكې دي پرهغوئ ګرفت اومواخذه نشته).دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادى چې ښكاركونكې له احرام څخه وړاندي ښكاركړى وو چې په هغه سره دى دښكارمالک جوړشوى وو اوس ښكارپريښودونكې دده محترم ملک تلف كړپه دي وجه دى دقيمت ضامن دى .

ف:فتوى دصاحبينوپرقول ده لمافى الدرالمختار:ولواخذحلال صيدالاحرم ضمن مرسله من يده الحكمية اتفاقاومن الحقيقة عنده خلافالهماوقولهمااستحسان كمافى البرهان ,وقال ابن عابدين :ونظيره الاختلاف فى كسرالمعازف اى الات اللهوكالطنبورقال فى

البحروهويقتضى ان يفتى بقولهماهنالان الفتوى على قولهمافى عدم الضمان بكسر المعازف واشارالشارح الى ذالک لان الفتوى على الاستحسان الخ (الدرالمختارمع الشامية: ۲/ ۲۴۱)

(۱۸۰) اوكه كوم محرم كس ښكارونيوى بياودده له لاس څخه كوم بل چاازادكړنومرسل بالاتفاق ضامن نه دى ولى چې محرم دښكارپه نيولوسره دښكارمالک نه وو جوړشوى په دي وجه چې ښكاركول دارشادبارى تعالى ﴿ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ﴾ په وجه سره حرام دى لهذاپرېښودونكي دده محترم ملک نه ده تلف كړى.

(۱۸۱) كه دښكارنيونكي محرم په لاس كې دښكارحيوان وو اوكوم بل محرم هغه قتل كړنو دادواړه ددي ضامن دي په هريوه باندي پوره پوره جزاء لازمه ده ولى چې لومړنى ښكارته په دي ډول تعرض كړى چې دهغه امن يې زائل كړى دى اوښكارته تعرض كول داحرام له ممنوعاتوڅخه دى لهذاپرده ضمان شته .اودوهم داتعرض مستحكم كړولى چې كه ده نه واى قتل كړى نوممكنه وه چې لومړنى دښكارپه پرېښودلوسره ښكارته تعرض ختم كړى واى په دي وجه پرده هم ضمان لازم دى .هولومړنى محرم چې څومره تاوان اداءكړي هغه به له هغه بل محرم څخه اخلي ولى چې دمحرم ښكاركول هغه دضمان سبب ګرځي كوم وخت چې كله له هغه سره هلاكت متصل شي كه يې ښكارپرېښودى نوضمان واجب نه دى نوكوم ضمان چې على شرف السقوط وو دوهم هغه مستحكم كړپه دي وجه سره اول محرم چې څومره ضمان اداء كې هغه به له هغه بل څخه اخلي.

(۱۸۲) قوله فان قطع حشيش الحرم ،څرنګه چې داځاى دتفريع نه دى ولى چې متفرع عليه نشته لهذادفاء پرځاى واوذكركول په كاروو اى وان قطع حشيش الحرم الخ ،يعنى كه چادحرم وابنه پرى كړل يايې داسې درخته پري كړه كومه چې دچامِلک نه ده اوحال داچې هغه په خپله ښنه كېدل يعنى خلګونه ښنه كول نوداسې وښواودرختي دپري كولوپه صورت كې پرده دهغه قيمت واجب دى ولى چې دحرم په سبب سره دوښواودرختو حرمت ثابت دى اونبى كريم ﷺ فرمايلي دي چې دحرم تازه وابنه دي نه پري كيږي اونه ددهغه څوځان پري كيږي . البته كوم چې وچ شي نوهغه څرنګه چې لويدونكي نه دي عام دسوځيدلوپه بوټوكې حساب دي لهذاپه هغوسره انتفاع اخيستل جائزدي .

ف:دحرم دوښووغيره دپري كولوپه صورت كې داتفصيل زده كول ضروري دى چې دحرم وابنه پردري قسمه دي .يوقسم هغه وابنه دي كوم چې چاپه محنت كولوسره كرلي وي ،دهغوپري كول بالاتفاق جائزنه دي .دوهم قسم هغه وابنه دي چې چاخوكرلي نه وي مګردهغووښوله جنس څخه وي كوم چې خلک عموماكري دداسې وښوپري كول هم جائزنه دي .دريم قسم خودرووابنه دي په دي كې صرف اذخرنومى وابنه پري كول جائزدي له دي څخه ماسوا جائزنه دي ،دپري كولوپه صورت كې جزاء واجبيږي .

(۱۸۳) يعنى دحرم په وښوكې څرول ياپريكول جائزنه دي ماسواله اذخرنومي وابنه څخه چې په حرم كې دننه دهغوپري كول جائزدي .اذخردحرم ديوخاص قسم خوشبوئي لرونكي وابنه نوم دى ،ولى دچې نبى كريم ﷺ ارشادمبارک دى چې ﴿لايختلى خلاها ولايعضد شوكها﴾(دحرم تازه وابنه دي نه پري كيږي اونه دي څوځان پري كيږي)پردي حضرت ابن عباس ﷺ وفرمايل﴿ الاالاذخرفانه لرعى دوابناوقبورنافقال

الاالاذخر﴾(يارسول الله ﷺ ماسواله اذخرڅخه چې دازموږدڅارويو اوقبرونودپاره دي ،نبی کريم ﷺ وفرمايل سمه ده ماسواله اذخرڅخه).له دي حديث څخه دڅرولوممانعت هم ثابتيږي ولی چې دڅاروی په خوله اوغابنونوسره پري کول داسې دی لکه په اريوسره ريبل نوکله چې په اريوسره ريبل ممنوع دي نوڅرول هم ممنوع دي.

ف:امام ابويوسف رحمه الله فرمايې چې دحرم په وښوکې څرول دضرورت په وجه سره جائزدي خاص کردحج په موقع باندي دسورليودڅرولوضرورت ډيردی له باهرڅخه په وښوراوړلوکې حرج دی .امام ابويوسف رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې څاريوته له حل څخه وابنه راوړل ممکن دي چې په هغوسره ضرورت پوره کيږي ،په دي کې بې شکه چې حرج شته مگرحرج په هغه ځای کې معتبردی چيرته چې نص نه وي واردشوی دلته خودممانعت په باره کې نص واردشوی دی .ليکن دعلامه شامی رحمه الله له تحقيق څخه معلوميږي چې دامام ابويوسف رحمه الله په قول باندي دضرورت په بناء باندي دجوازفتوی ورکول په کاردی ولی چې څارويوته دحرم دوښوپه ورکولوکې داذخرپه نسبت ضرورت ډيردی په دي وجه چې حرم ته ترټولوقريبه علاقه له حرم څخه ترڅلورميله هم په ډيره فاصله کې ده نوکه خلگ په ورځ کې يوځل ولاړشي اوراشي نوورځ ختميږي قال وجوزه ابويوسف رحمه الله للضرورة فان منع الدواب عنه متعذروتمامه فی الهداية ونقل بعض المحشين عن البرهان تائيدقوله بماحاصله ان الاحتياج للرعی فوق الاحتياج للاذخر واقرب حدالحرام اربعة اميال ففی خروج الرعاة اليه لم عودهم قدلايبقی من النهاروقت تشبع فيه الدواب ولی قوله ﷺ لايختلی خلاها ولايعضدشوكها وسكوته عن نفی الرعی اشارة لجوازه والاينه ولامساواة بينهماليلحق به دلالة الخ (ردالمحتار:۲/۲۳۷)

(۱۸۴)وَكُلُّ شَيْءٍ عَلَى الْمُفْرِدِ بِهِ دَمٌ فَعَلَى الْقَارِنِ دَمَانِ (۱۸۵)إلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ الْمِيقَاتَ غَيْرَ مُحْرِمٍ (۱۸۶)وَلَوْ قَتَلَ مُحْرِمَانِ صَيْدًا تَعَدَّدَ الْجَزَاءُ (۱۸۷)وَلَوْ حَلَالَانِ لَا (۱۸۸)وَيَبْطُلُ بَيْعُ الْمُحْرِمِ صَيْدًا أَوْ شِرَاؤُهُ (۱۸۹)وَمَنْ أَخْرَجَ ظَبْيَةَ الْحَرَمِ فَوَلَدَتْ وَمَاتَا ضَمِنَهُمَا (۱۹۰)وَإِنْ أَدَّى جَزَاءَهُ فَوَلَدَتْ لَا يَضْمَنُ الْوَلَدَ

ترجمه:اوهرهغه شی دکوم په وجه سره چې پرمفرديودم دي پرقارن به دوه دمه وي ،مگرداچې تيرشي له ميقات څخه بلااحرامه ،اوکه قتل کړدومحرمانوښکارلره نومتعدده به وي جزاء ،اوکه دووحلالوکسانو ښکارقتل کړنوجزابه متعدده نه وي ،اوباطله ده دمحرم خرڅول ښکارلره اودهغه اخيستل، اوچاچې راويستله دحرم هوسۍ بيادهغې بچی پيداشو او دواړه مړه شول نوضامن به وي ددواړو ،اوکه يې دهوسۍ جزاءاداءکړه بيادهغې بچی پيداشونوضامن به نه وی دبچې.

تشريح :(۱۸۴)يعنی دکوموجناياتوپه بدله کې چې په حج افرادکونکې باندي يودم يايوه صدقه ده دهغو جناياتو ارتکاب که حج قران کونکی وکړي نوپرده به دوه دمه او دوه صدقې وي ځکه چې قارن په دوواحرامونو سره محرم دی يو دحج احرام اوبل دعمري احرام ،نوپه دوواحرامونودجنايت دکولو وجه سره به جزاءگاني هم دوي وي.

ف:دحکم دهغه متمتع هم دی کوم چې له ځان سره هدی هم بيولې وي ولی چې هغه هم په دوواحرامونو سره محرم دی .البته دحج له واجباتوڅخه دکوم واجب په ترک کولوسره يادحرم دوښووغيره دپري کولوپه

صورت کې دوه دمه نه واجبیږي ولی چې دوه دمه دجنایت علی الاحرام په صورت کې واجبیږي اودا جنایت علی الاحرام نه دی.

(۱۸۵) قوله الاان یجاوالمیقات غیرمحرم ای الاان یجاوالقارن المیقات حال کوله غیرمحرم فانه حینئذیجب علیه دم واحد یعنی یوصورت داسې دی په کوم کې چې پرقارن باندې هم یودم دی هغه داده چې له میقات څخه بغیراحرام تیرشې اوپه حل کې دحج اوعمرې دواړواحرام وتړي نوپرده یودم واجب دی ولی چې په دې وخت کې دده پرذمه دکعبة الله دتعظیم لپاره یواحرام لازم دی نوله میقات څخه دتیریدلوپروخت دی قارن نه دی نودا احرام دتاخیرپه وجه سره پرده یودم واجبیږي.

ف: دامام زفر رحمه الله په نزد په دې صورت کې هم پرده دوه دمه واجب دي ولی چې دده دوه احرامه موخرکړي دي لهذا په نوروممنوعاتوپرقیاسولوسره دهراحرام لپاره به یودم لازم وي. امام زفر رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې له میقات څخه دتیریدلوپروخت یواحرام لازم دی نه دوه لهذا دم به هم یوواجب وي.

(۱۸۶) که دوومحرمانوپه ګډه سره کوم ښکارپه حرم یاحل کې قتل کړنوپرهریوه باندې دکامل ښکارجزاء لازمه ده په دې وجه سره چې په دوئ دواړوکې هریومحرم دی اوهریوه په کامل احرام باندې جنایت کړی دی. همداراز په دوئ دواړوکې هریوه په قتل صیدکې په شرکت کولوسره دداسې جنایت ارتکاب کړی دی کوم چې دښکارله وربښودلواودښکارپه باره کې له دلالت کولوڅخه لوی دی لهذا پردواړوبه کامله جزاء وي.

(۱۸۷) قوله ولوحلالان لا ای لواشترک حلالان فی قتل صیدلایتعددالجزاء، یعنی که دووحلالوکسانوپه ګډه سره په حرم کې ښکارقتل کړنوپردواړوباندې یوه صرف یوه جزاء ده په دې وجه چې ضمان دلته صرف دحرمت حرم په وجه سره دی ولی چې په دې صورت کې خواحرام نشته اوحرم یودی لهذا اجزاء به هم یوه وي.

(۱۸۸) محرم که ښکارخرڅ کړیایې واخیستی نودده دابیع باطله ده ولی چې محرم که ژوندی ښکارخرڅوي نودمأمون اومحفوظ ښکارته تعرض کول دي کوم چې منهی عنه ده په دې وجه جائزنه دی، اوکه له قتل کولوڅخه وروسته یې خرڅوي نودادمرداربیع ده ولی چې دمحرم په ذبح کولوسره ښکارمرداریږي په دې وجه جائزنه دی، همداراز محرم دښکار کولوپه وجه سره دښکارمالک نه ګرځي نوداخیستلواوخرڅولوپه وجه سره هم مالک نشي جوړیدای اودغیرمملوک بیع باطله ده. مصنف رحمه الله مطلق ذکرکړي ده چې دمحرم بیع باطله ده له کوم څخه چې همدا ثابتیږي چې دمحرم خرڅول باطل دي که څه هم مشتری حلال وي اودمحرم اخیستل باطل دي که څه هم بائع حلال وي.

(۱۸۹) که چاله حرم څخه هوسی دباندې راویستله خواکه رایستلوالامحرم وي اوکه غیرمحرم وي، له حرم څخه دباندې ددې هوسۍ بچې پیدا شوبیاهوسۍ اوددې بچې دواړه مړه شول نوپه رایستونکې باندې ددواړوجزاء واجب ده ولی چې ښکارله حرم څخه درایستلووروسته هم شرعاً دامن مستحق دی په همدې وجه خوده لره دده دامن ځای ته رسول واجب دی اوداصفت شرعیه یعنی دامن مستحق والی

دېچيانوطرف ته هم سرايت كوي لكه چې د نوروصفاتو قاره مثلاحريت، كتابت وغيره حكم دى لهذادتولوجزاء واجبه ده .

(۱۹۰)هوكه دهوسۍ رايستونكې دهوسۍ جزاء اداء كړه بيادې بچي پيداشونوپردې دبچي جزاء واجبه نه ده ولى چې دهوسۍ دجزاء په اداء كولوسره اوس هغه دامن مستحقه نه شوه پاتې ولى چې دهوسۍ بدل فقراؤته رسيدل داسې ده لكه دهوسۍ حرم ته رسيدل ،نوله دې سره متصل بچي به هم دامن مستحق نه وي .همداشان كه له كفاره وركولوڅخه وړاندې ددې په بدن ياقيمت كې زيادت وشويياهلاكه شوه نوبه ددې اضافي ضمان هم وركوي اوكه له كفاره اداء كولوڅخه وروسته ددې په بدن ياقيمت كې اضافه وشوه نومحرم به ددې اضافي ضامن نه وي .

بَابُ مُجَاوَزَةُ الْمِيقَاتِ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ

داباب له ميقات څخه دبلااحرامه تيريدلوپه بيان كې دى

داحرام په وجه سره چې كوم امورجنايت ګڼل كيدل دهغوله بيان څخه چې فارغ شونومصنف رحمه الله د داسې جناياتوبيان شروع كړكوم چې بغيرله احرام څخه وي نوپه دواړوكې دجنايت ترحدپوري مناسبت شته .البته څرنګه چې په دواړوكې نسبت تقابل دى په دې وجه يې داقسم په مستقل باب كې ذكركړ، بيادباب جنايات دتقديم وجه داده چې هغه بعدالاحرام جنايت دى اوباب مجاوزة الميقات قبل تراحرام جنايت دى اوپه باب الحج كې دمطلق اسم جنايت اطلاق پرهغو جناياتوكيږي كوم چې له احرام څخه وروسته وي لهذاكامل جنايت بعدالاحرام والادى فقدم ذاک على هذالهذا.

(۱۹۱)من جَاوَزَ الْمِيقَاتَ غَيْرَ مُحْرِمٍ ثُمَّ عَادَ مُحْرِمًا مُلَبِّيًا او جَاوَزَ ثُمَّ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ ثُمَّ أَفْسَدَ وَقَضَى بَطَلَ الدَّمُ(۱۹۲)فَلَوْ دخل الْكُوفِيُّ الْبُسْتَانَ لِحَاجَةٍ لَهُ دُخُولُ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ وَوَقْتُهُ الْبُسْتَانُ(۱۹۳)وَمَنْ دخل مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ وَجَبَ عليه أَحَدُ النُّسُكَيْنِ ثُمَّ حَجَّ عَمَّا عليه فِي عَامِهِ ذلك صَحَّ عن دُخُولِهِ مَكَّةَ بِلَا إِحْرَامٍ(۱۹۴)لَا إِنْ تَحَوَّلَتِ السَّنَةُ لَا

ترجمه :كوم كس چې تيرشو له ميقات څخه بلااحرامه بياييرته راوګرځيدواحرام يې وتاړه په تلبيه ويلوسره ياله ميقات څخه تيرشوبيايې احرام وتاړه دعمرې بيايې هغه فاسده كړه اوقضاء يې راوړه نودم ساقطيږي ،اوكه كوفى كس بستان ته داخل شودكوم حاجت دپاره نودده لپاره جائزده مكې مكرمې ته داخليدل بلااحرامه اودده ميقات هغه باغ دى ،اوكوم كس چې داخل شومكې ته بلااحرامه نوواجب ده پرده له دووعبادتونوڅخه يوبياده حج وكړكوم چې دده پرذمه واجب وو په همدې كال نوداصحيح دى دهغه په عوض كې كوم چې بلااحرامه مكې ته دداخليدلوپه وجه سره لازم شوى وو ،اوكه كال وګرځيدونوصحيح نه ده .

تشريح :(۱۹۱) كه كوم خارجي كس بغيرله احرام ترلوله ميقات څخه تيرشونوپرده دترک احرام په وجه سره دم لازم دى ليكن كه دده احرام وتړه اوپه تلبيه ويلوسره بيرته دميقات طرف ته راوګرځيدوخواه كه دحج احرام وي اوكه دعمرې احرام وي ،يابغيرله احرام ترلوله ميقات څخه تيرشواوبيايې دعمرې احرام وتاړه له دې وروسته يې عمره فاسده كړه اوله نوي سره يې له ميقات څخه احرام وتاړه دعمرې قضاء يې راوړه نوله ده

شخص په دې دوارو صورتونو کې هغه دم ساقطیږي کوم دم چې بلا احرامه له میقات څخه د تیریدلو په وجه سره پرده لازم شوی وو ولی کوم څه چې له ده څخه فوت شوی وو ده هغه په خپل وخت کې تدارک وکړ.

ف: البته د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد بیرته په راګرځیدلو کې تلبیه ویل شرط دي که یې تلبیه ونه ویله نو دم نه ساقطیږي. حال دا چې د صاحبینو په نزد دم ساقطیږي که یې تلبیه وویله او که یې ونه ویله .صاحبین فرمایې چې له میقات څخه احرام تړل په خپل وخت کې د تقصیر تلافی ده .امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایې چې دا تلافی له تلبیې څخه بغیر کامله نه ده .د امام زفر رحمه الله په نزد ددې تقصیر تدارک اوس ممکن نه دی ولی چې د میقات طرف ته په بیرته راګرځیدلو سره جنایت نه رفع کیږي لهذا دم په هر صورت لازمیږي .او که داسې کس له استلام حجر څخه وروسته واپس شونو بالاتفاق دده له ذمې څخه دم نه ساقطیږي .د امام ابو حنیفه رحمه الله قول راجح دی کما قال الشیخ عبدالحکیم الشهید: واختار جمیع اهل العلم قول الامام ابی حنیفة وان کان ظاهر الدلیل یرجح قولهما واعترض ابن الهمام فی الفتح علی دلیله لکن اجاب عنه المشائخ النصر وامذهب الامام رحمه الله (هامش الهدایة: ۲/۲۶۸)

(۱۹۲) که کوم کوفی کس (مراد افاقی دی چې له هره ځایه څخه راغلی وي) د خپل کوم ضرورت په وجه سره بستان بنو عامر (مکې مکرمې ته قریب د میقات دننه او له حرم څخه د باندې دیو ځای نوم دی کوم چې له مکې مکرمې څخه د شل میله په فاصله پروت دی ،کوم ته چې نن صبا نخله محمود ویل کیږي) ته بغیرله احرام څخه داخل شونو پرده هیڅ جرم نشته اوس که دي له بستان بنو عامر څخه مکې مکرمې ته داخلیدل وغواړي نوده ته بغیرله احرام څخه مکې مکرمې ته دداخلیدلو اجازه شته ولی چې دی اوس د بستان یعنی حل والو څخه دی ،او د بستان والو ته جائز دی چې بغیرله احرامه مکې مکرمې ته داخل شي نو دده لپاره به هم بلا احرامه دخول جائزوي .او که داکس اوس په احرام تړلو سره مکې مکرمې ته داخلیدل وغواړي نو دده لپاره میقات همدا بستان (مراد ټول حل دی) دی ولی کوم خلک چې د میقاتونو دننه اوسیږي د هغوئ لپاره میقات حل دی.

ف: د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد څوک چې هم بستان ته داخل شي هغه اوس د هغه ځای شمارل کیږي خواه که د پنځه لسو ورځو د اقامت نیت وکړي او که یې ونه کړي ،حال دا چې له امام ابو یوسف رحمه الله څخه مروی ده چې کوم شخص چې په بستان کې له پنځه لسو ورځو څخه د کم اقامت نیت وکړي هغه د بستان له اوسیدونکو څخه نه شمارل کیږي لهذا ده لره بغیرله احرامه مکې مکرمې ته داخلیدل جائز نه دي ،د امام صاحب قول راجح دی کمافی الدر المختار: دخل کوفی ای آفاقی البستان ای مکانا من الحل داخل المیقات لحاجته قصدها ولو عند المجاوزة علی ما مر ونیة مدة الاقامة لیست بشرط علی المذهب (الدر المختار علی هامش الشامیة: ۲/۲۳۶)

(۱۹۳) که کوم کس مکې مکرمې ته بغیرله احرام څخه داخل شونو پرده حج یا عمره لازمه شوه بیا دی په همدې کال روان شو او له میقات څخه یې د حج اسلام یا عمرې احرام وتاړه نو بغیرله احرامه مکې مکرمې ته دداخلیدلو په وجه چې کوم حج یا عمره پرده لازمه شوې وه دا حج یا عمره د هغه لپاره کفایت کوي اوس د هغه د مستقل اداء کولو ضرورت نشته ولی چې پرده په احرام سره د کعبة الله تعظیم واجب وو خواکه په کوم طریقه سره هم وي او س هغه تعظیم په وخت کې دننه (یعنی په همدې کال) د حج یا عمرې په کولو سره حاصل شو لهذا د هغه لپاره د مستقل حج یا عمرې کولو ضرورت نشته.

(۱۹۴)قوله فان تحولت السنة لای ان تحولت السنة هذه لم احرم بالحج من المیقات لاینوب عما وجب علیه بدخول مکة بلااحرام، یعنی په کوم کال چې دی بغیرله احرام څخه مکې مکرمې ته داخل شوی وو هغه کال تیرشو اوس دی له میقات څخه احرام تړي حج یاعمره اداء کوي نو دا دهغه حج یاعمرې څخه کفایت نه کوي کوم چې مکې مکرمې ته دبغیرله احرام څخه دداخلیدلو په وجه سره پرده لازم شوی وو ولی چې هغه اوس دده پرذمه دین مقصود دی دهغه دپاره مقصودا احرام تړل ضروري دی.

بَابُ إِضَافَةِ الْإِحْرَامِ إِلَى الْإِحْرَامِ

دا باب له یوه احرام سره دبل احرام دیوځای کولو په بیان کې دی

له یوه احرام سره دبل احرام یوځای کول څرنګه چې دمکی او په مواقیتو کې داوسیدونکو په حق کې جنایت دی او دآفاقی په حق کې ماسوا له یوه صورت څخه جنایت نه دی او هغه صورت دادی چې دعمري احرام دحج له احرام سره یوځای کړي دا صورت دآفاقی په حق کې هم جنایت دی له دي څخه ماسوا اضافت احرام الی الاحرام دآفاقی په حق کې جنایت نه دی نو ثابته شوه چې احرام له احرام سره یوځای کول په یوه اعتبارسره جنایت دی لهذا له باب الجنایات سره متصل دده احکام بیانول مناسب دي او په بل اعتبارسره جنایت نه دی په دې جه یې دده لپاره دمستقل باب عنوان کښیښود.

(۱۹۵)مَكِّيٌّ طَافَ شَوْطًا لِلْعُمْرَةِ فَأَحْرَمَ بِحَجٍّ رَفَضَهُ وَعَلَيْهِ حَجٌّ وَعُمْرَةٌ وَدَمٌ لِرَفْضِهِ (۱۹۶) فلو مضى علیهما صح وعلیه دم (۱۹۷) وَمَنْ أَحْرَمَ بِحَجٍّ ثُمَّ بِآخَرَ يَوْمَ النَّحْرِ فَإِنْ حَلَقَ فِي الْأَوَّلِ لَزِمَهُ الْآخَرُ وَلَا دَمَ (۱۹۸) وَإِلَّا لَزِمَهُ وَعَلَيْهِ دَمٌ قَصَّرَ أَوْ لَا

ترجمه: مکی کس یو شوط طواف وکړ دعمري دپاره بیا یې احرام وتاړه دحج نو حج دې پریږدي او پرده حج اوعمره او یو دم دی دحج دپریښودلو په وجه، نو که دده دواړو افعال یې وکړل نو صحیح دی او پرده دم لازم دی او که چا احرام وتاړه دحج بیا یې دبل حج احرام وتاړه داختر پرورځ نو که یې حلق وکړ په اول کې نو پرده دوهم لازمیږي او پرده دم نشته، که نه نو حج لازمیږي او پرده دم هم لازمیږي خوا قصرو کړي او که یې نه وکړي.

تشریح: (۱۹۵) یعنی که مکی دعمري احرام وتاړه او دعمري لپاره یې یو شوط طواف وکړ بیا یې دحج احرام وتاړه یعنی دحج داحرام نیت یې وکړ نو پرده واجب ده چې حج پریږدي ول چې دمکې لپاره دحج او عمري جمع کول مشروع نه دي. او دحج دپریښودلو په وجه سره پرده یوه قرباني واجبیږي او پرده دحج او عمري قضاء واجب ده. باید واضحه وي چې حج خو دشروع کولو په وجه سره واجب شوی وو په دې وجه به دهغه قضاء کوي مګر دعمري قضاء نشته بلکه له هر قضائی حج سره یوه عمره وي په دې وجه چې دحج قضاء راوړي عمره به هم اداء کوي.

ف: بیا دامام صاحب په نزد دحج پریښودل ښه دی ولی چې له عمري سره دیوه شوط طواف اداء متصله شوه اوس دهغې په پریښودلو سره دعمري ماتول لازمیږي حال دا چې دحج په پریښودلو سره ماتول نشته بلکه امتناع عن الاداء ده ولی چې له حج سره اداء نه ده متصله شوي نو دکوم عمل له ماتولو څخه امتناع عن العمل اولی ده. صاحبین فرمایې ښه دا ده چې عمره پریږدي ولی چې دعمري رتبه له حج څخه کمه ده. او که یې

دعمري دپاره يوشوط طواف هم نه وي کړی نو دي کس لره بلاخلافه حکم دادی چې عمره دي پريږدي .دامام صاحب قول راجح دی کمافي الشامية: وله ان احرامها تاکد باداء شئ من اعمالها ورفض غير المتاكد ايسر ولان في رفضها ابطال العمل وفي رفضه امتناع عنه (ردالمحتار: ۲/ ۲۴۸)

(۱۹۶)که په مذکوره بالاصورت کې مکی حج پري نه شود بلکه ددواړو افعال يې اداء کړل نودواړه اداء شول ولی ده چې ددواړو افعال په کوم ډول پرځان لازم کړي وو په هغه ډول سره يې اداء کړل . هو اوس پرده يودم لازم دی ولی چې ده دمنهی عنه فعل ارتکاب وکړنو دادم دهغه دتلافی لپاره دي .

(۱۹۷)که چادحج احرام وتاړه بيايې په لسم دذی الحجه دراتلونکې کال لپاره دبل حج احرام وتاړه نوکه له اول حج څخه دوتلولپاره ده حلق کړی وي بيايې ددوهم کال لپاره دحج احرام وتاړه نوپرده دوهم حج لازميږي اوداد وهم حج به راتلونکی کال اداء کوی ترهغه وخته به محرم وی اوپرده دم وغيره هيڅ واجب نه دي ولی چې ده دوه احرامه نه دي جمع کړي په دي وجه چې په حلق سره هغه له اول احرام څخه وتلی وو .

(۱۹۸)قوله والالزمه وعليه دم قصراولا ای وان لم يحلق للحج الاول واحرم للثانی لزمه وعليه دم قصراولم يقصر،يعنی که له اول حج څخه دوتلولپاره ده حلق نه وو کړی نوپرده دوهم حج لازميږي اوپرده دم هم لازميږي خواله اول حج څخه وروسته حلق (قصر)وکړي يايې نه وکړي ولی چې که حلق وکړي نوداپه دوهم احرام جنايت دی په دي وجه سره دم لازم دي اوکه حلق نه وکړی نوداداول حج دحلق له خپل وخت څخه موخرکول دی دکوم په وجه سره چې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددم لازميږي. دصاحبينو په نزدپه اول صورت کې خودم لازميږي ولی چې ده ددوهم حج پراحرام باندي جنايت وکړ،اوپه دوهم صورت کې دم نشته ولی چې ددوئ په نزدپه تاخيرعمل سره په محرم هيڅ شی نه واجبيږي .

ف :دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی لمافي الدر المختار: ومن احرم بحج ثم احرم يوم النحر بآخرفان کان قدحلق للاول لزمه الآخرفي العام القابل بلادم لانتهاء الاول والا يحلق للاول فيلزمه الآخرمع دم قصراولا ای اذا لم يحلق للاول ثم احرم بالثانی لزمه دم سواء حلق عقب الاحرام الثانی اولابل اخره حتی حج في العام القابل وهذا عنده (الدرالمختار مع الشامية: ۲/ ۲۵۰)

(۱۹۹)وَمَنْ فَرَغَ مِنْ عُمْرَتِهِ إِلَّا التَّقْصِيرَ فَأَحْرَمَ بِأُخْرٰی لَزِمَهُ دَمٌ (۲۰۰)وَمَنْ أَحْرَمَ بِحَجٍّ ثُمَّ بِعُمْرَةٍ ثُمَّ وَقَفَ بِعَرَفَةَ فَقَدْ رَفَضَ عُمْرَتَهُ (۲۰۱)وَإِنْ تَوَجَّهَ إِلَيْهَا لَا (۲۰۲)فَلَوْ طَافَ لِلْحَجِّ ثُمَّ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَمَضٰی عَلَيْهِمَا يَجِبُ دَمٌ وَنُدِبَ رَفْضُهَا

ترجمه :اوکوم کس چې فارغ شوله عمري ماسواله قصرڅخه بيا ده احرام وتاړه دبلې عمري نوپرده لازم دی دم ،اوچاکه احرام وتاړه دحج بيادعمري بيايې وقوف عرفات وکړنوده پريښودله خپله عمره ،اوکه متوجه شوصرف دعرفات طرف ته نونه ،نوکه يې طواف وکړ دحج لپاره بيايې احرام وتاړه دعمري ،اوددواړو افعال يې اداء کړل نودم واجبيږي اومستحب دی ده لره ددي عمري پريښودل .

تشريح :(۱۹۹)که څوک له سرخريلويا کمولو څخه ماسوادعمري له نوروافعالو څخه فارغ شو بيا ده دبلې عمري احرام وتاړه نوپرده دم واجب دي ولی چې ده دبلې عمري احرام له وخت څخه په وړاندي ترلوسره داولنی عمری له احرام سره هغه هم جمع کړاوجمع بين الاحرامين مکروه تحريمي ده نوپرده دم لازميږي اودادم ددي نقصان تلافی اوجبيره ده .

(۲۰۰)که چادحج احرام وتاړه پیاده دحج دافعالوله اداء کولو څخه وړاندي دعمري احرام وتاړه بیایې وقوف عرفات وکړ دعمري افعال یې بالکل اداء نه کړل نوداکس دعمري پرېښودونکی شمارل کیږي ولی چې له وقوف عرفه څخه وروسته پرده دعمري اداء کول متعذردي په دي جه چې له وقوف عرفه وروسته دعمري افعال اداء کول گویاعمره په حج بناء کول دي حال داچې عمره په حج بناء کول مشروع نه دي.

(۲۰۱)قوله وان توجه الیهالاای لابصیرتارکاحتی یقف بها،یعني که داکس صرف دعرفات طرف ته متوجه شونوصرف دعرفات طرف ته په متوجه کیدلوسره تارک عمره نه شمارل کیږي په خلاف دهغه کس کوم چې دظهرلمونځ اداء کړي بیادجمعې طرف ته متوجه شي چې په متوجه کیدلوسره دده دظهرلمونځ ترک کیږي.په دي دوومسئلوکې وجه دفرق داده چې کله چې ظهراداء کړدجمعې طرف ته متوجه شونوده ته دجمعې طرف دمتوجه کیدلوخطاب یعني ﴿فاسعوالی ذکرالله﴾ تراوسه موجوددی حال داچې دعمري په پرېښودلوسره اودعرفات طرف ته دمتوجه کیدلوپه صورت کې دعرفات طرف ته دمتوجه کیدلوحکم نشته بلکه دی منع کړل شوی دی، حکم دادی چې اول عمره اداء کړي بیادي عرفات ته ولاړشي.

(۲۰۲)که چادحج طواف قدوم وکړبیایې دعمري احرام وتاړه اودواړه یې په دي ډول سره اداء کړل چې افعال عمره یې په افعال حج باندي مقدم کړل نوداصحیح ده اوددواړودجمع کولوپه وجه پرده یودم لازم دی اودادم دعلامه فخرالاسلام په نزدکفاره اودنقصان دتلافی لپاره دی دم شکرنه دی صحیح همداده په هدایه کې دهمدي تصحیح کړي ده ،حال داچې دشمس الائمه په نزدڅرنگه چې داحج قران دی لهذادادم شکردي اوداقول راجح هم دی (کذافی الشامیة :۲۵۱/۲)لیکن په مذکوره بالاصورت کې دعمري ماتول مستحب دی ولی چې دحج اودعمري ترمنځ من وجه فعلی ترتیب فوت شوولی چې ده دعمري له طواف څخه وړاندي طواف قدوم وکو.لیکن عمره ماتول لازم نه دی ولی ده چې دحج کوم عمل اداء کړی دی هغه رکن نه دی ترڅودعمر ي ترتب پرحج وګڼل شي .اوکله چې یې عمره ماته کړه نودهغې قضاء دي راوړي ولی چې دعمري شروع کول صحیح شوی وو اوپرده دعمري دماتولوپه وجه سره یودم واجب دی.

(۲۰۳)وَاِنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ يَوْمَ النَّحْرِ لَزِمَتْهُ وَلَزِمَهُ الرَّفْضُ وَالدَّمُ وَالْقَضَاءُ فَإِنْ مَضَى عَلَيْهَا صَحَّ وَيَجِبُ دَمٌ (۲۰۴)وَمَنْ فَاتَهُ الْحَجُّ فَأَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ أَوْ حَجَّةٍ رَفَضَهَا

ترجمه:اوکه یې احرام وتاړه دعمري داخترپه ورځ نوهغه لازمیږي اوپرده لازمه ده دهغې پرېښودل اودم اوقضاء لازمیږي اوکه ده اداء کړل دهغې افعال نوصحیح ده اودم واجبیږي ،اودچافوت شي حج بیادی احرام وتړي دعمري یاحج نوهغه دي پرېږدي .

تشریح:(۲۰۳)که چاپه یوم نحرکې دعمري احرام وتاړه نوپرده عمره لازمه شوه ولی چې دعمري شروع کول صحیح دي اوعمل په شروع سره لازمیږي .البته ددي عمري ماتول لازم دي ترڅوله گناه څخه خلاص شي ولی چې په دي ورځوکې داعمال حج دتعظیم په وجه سره عمره مکروه ده .اوس دده پرذمه یودم لازمیږي ولی چې ده له وخت څخه وړاندي دعمري له احرام څخه تحلل اختیارکړ.اودعمري دپرېښودلو په وجه سره دهغې قضاء لازمه ده ولی چې په شروع کولوسره عمره لازمه شوي وه کومه چې ده ماته کړي وه .اوکه ده عمره نه پرېښوده بلکه پوره یې کړه نوداصحیح ده ولی چې بنفسه په عمره کې څه کراهت نشته بلکه کراهت

لغیره دی او هغه غیر دادی چې په دي ایاموکې ده لره دحج باقي اعمال اداء کول دي په دي وجه سره دافعال حج لپاره وخت فارغ پرېښودل تعظیماواجب دی .البته دحج اوعمري دواړو دجمع کولوپه وجه سره پرده یودم لازم دی .

(۲۰۴)که دچاحج فوت شویعني وقوف عرفات فوت شو .بیاده دعمري یاحج احرام وتاړه نوداکس دي دادوهم ترک کړي خواه که عمره وي اوکه حج وي ولی چې دچاحج فوت شې هغه دعمري دافعالوپه اداء کولوسره حلالیږي بغیرله دي چې دده احرام منقلب شي اودعمري احرام وګرځي یادبل حج احرام وګرځي لهذااداعمالوپه اعتبارسره داکس ددووعمرو یادووحجونوجمع کونکی شواو داجائزنه دی په دي وجه سره دي دادوهم احرام ترک کړي .

بَابُ الْإِحْصَارِ

داباب داحصارپه بیان کې دی

احصارپه لغت کې بندولوته ویل کیږي اوشرعاًمنع المحرم عن اداء الرکنین (یعنی محرم له وقوف عرفات اوطواف زیارت څخه بندولو)ته ویل کیږي .نومحصرهغه کس دی چې دحج یاعمري یادواړواحرام وتړي بیادمرض یادښمن وغیره په وجه سره حج ونه کړای شي .دمحصرحکم دادی چې دی دبیت الله ته دتلونکی کوم کس په لاس پسه یادپسه قیمت حرم ته ولیږي هغه به یې هلته ذبح کړي نومحرم حلالیږي .

څرنګه چې تحلل بالاحصارهم یوقسم جنایت دی ولی چې داحصارپه وجه سره چې کوم دم لازمیږي له هغه څخه دجانی په شان محصرخورک نشي کولی په دي وجه له جنایاتوڅخه وروسته احصارذکرکړی دی .دجنایاتودتقدیم وجه داده چې جنایات اختیاري دي او احصارضروري دی .

(۲۰۵)لِمَنْ أُحْصِرَ بِعَدُوٍّ أَوْ مَرَضٍ أَنْ يَبْعَثَ شَاةً تُذْبَحُ عَنْهُ وَيَتَحَلَّلَ (۲۰۶)وَلَوْ قَارِنًا بَعَثَ دَمَيْنِ (۲۰۷)وَيَتَوَقَّفُ بِالْحَرَمِ لَا بِيَوْمِ النَّحْرِ (۲۰۸)وَعَلَى الْمُحْصَرِ بِالْحَجِّ إِنْ تَحَلَّلَ حَجَّةٌ وَعُمْرَةٌ (۲۰۹)وَعَلَى الْمُعْتَمِرِ عُمْرَةٌ (۲۱۰)وَعَلَى الْقَارِنِ حَجَّةٌ وَعُمْرَتَانِ

ترجمه :جائزده دهغه کس لپاره کوم چې بندشود دښمن یاناروغي په وجه سره داچې ولیږدوي پسه کوم چې ذبح کړای شي دده له طرف څخه بیادی حلال شي ،اوکه هغه قارن وو نودوه دمه دي ولیږدوي ،او دادم متعین دي په حرم سره نه چې داختر په ورځې سره ،اوله حج څخه دبندشوي کس په ذمه که هغه حلال شي یوحج اوعمره ده ،اوله عمري څخه دبندشوی کس پرذمه عمره ده ،اوپرقارن یوحج اودوه عمري دي .

تشریح :(۲۰۵)یعنی چاچې احرام وتاړه بیاخوف دښمن دی له حج څخه پاتې کوچنانچه دی حج ته نه ولاړی یامریض شودمرض په وجه سره نه ولاړی نوداسې کس لره دلته خپل ځان حلالول جائزدی .دکوم چې طریقه داده چې بیت الله ته دتلونکې کوم کس په لاس پسه یادپسه قیمت حرم شریف ته ولیږدوي ترڅوهغه په حرم کې داپسه حلال کړي کله چې هغه داپسه په حرم کې ذبح کړي په هدي وخت محصر (بندشوی کس)حلالیږي اوداحکم په دي وجه دی چې احرام ممتدنشي دکوم په وجه چې به دی به مشقت کې ولویږي .امام

صاحب فرمايي چې دېيونكې كس څخه دي ديوي متعينې ورځې وعده واخلي ترڅو هغه په هغه ورځ باندي ذبح وكړي بيا چې كله هغه متعينه ورځ راورسيږي نو دمحصر لپاره به اوس ټول ممنوعات حلال شي .

ف: دطرفينو په نزد پر محصر حلق يا قصر لازم نه دی حال داچې دامام ابويوسف رحمه الله په نزد دپسه له ذبح كولو څخه وروسته پرده حلق لازم دی ولی چې محصر كه څه هم له نورو مناسكو دحج څخه عاجزدی له حلق څخه خو عاجز نه دی ،همدارازنبی كريم ﷺ په حديبيه كې له محصوركيدلو څخه وروسته صحابه كرامو رضي الله عنهم ته دحلق كولو حكم فرمايلې وو .امام ابويوسف رحمه الله ته ځواب وركړل شوی د ی چې حلق موقت بالحرم دی په حرم كې مونږهم دحلق قائل يوا ونبی كريم ﷺ صحابه كرامو رضي الله عنهم ته هم ځكه امركړی وو چې دوئ په حديبيه كې وو او دحديبيه بعض حصه په حرم كې شامله ده .

ف: دامام شافعي رحمه الله په نزد احصارصرف ددښمن په وجه سره راتلای شي په مرض وغيره سره نشي كيدای ولی چې ايت مبارك ﴿فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ﴾ دنبی كريم ﷺ اوصحابه كرامو رضي الله عنهم په باره كې نازل شوی دی اوهغوئ ددښمن به وجه سره محصروو .امام شافعي رحمه الله ته ځواب وركړل شوی دی چې ايت احصاردمحصر بالمرض په باره كې نازل شوی دی ولی چې داحصارلفظ داهل لغت په نزددمرض په وجه سره دپاتي كيدلو دپاره ويل كيږي اولفظ حصر ددښمن په وجه سره دپاتې كيدلو دپاره ويل كيږي اوپه ايت شريف كې حصرنه دی بلكه داحصارلفظ دی .نو دمرض په وجه سره محصر كيدل په ايت شريف سره ثابت دی اوددښمن په وجه محصر كيدل دصلح حديبيه په واقعه سره ثابت دی .

(۲۰۶)ديوه پسه دليږلو حكم خومفردلره دی كه قارن حج ته له تللو څخه بندكړای شونوهغه څرنگه چې په دواحرامونوسره محرم دی لهذادي دواړواحرامونو څخه دوتلو لپاره دوه پسونه يادهغو قيمت ليږل ضروري دی .نوكه قارن يوه هدی وليږل ترڅوصرف دحج له احرام څخه حلال شي نوله يوه څخه هم نه حلاليږي ولی چې له دواړو احرامونو څخه په حالت واحده كې حلاليدل مشروع دي نوكه له يوه څخه حلال شي اوله بل څخه حلال نشي نوپه دي كې تغيير مشروع دی.

(۲۰۷)داقرباني په حرم پسې موقته ده په يوم نحرپسې موقته نه ده يعني دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدم احصارله حرم څخه ماسواپه بل ځای كې ذبح كول جائزنه ده ولی چې له زمان متعين (يعني داخترورځ)اومكان متعين (يعني كعبة الله)څخه ماسوادوينې تويولو قربت متعارف نه دی .البته دعيدله ورځې څخه وړاندي ذبح كول جائزده ولی چې داخترپه ورځ پسې په مخصوص كولوسره كله داخترورځ ليري وي نودمحصراحرام اوږديږي اودی په حرج كې مبتلاكيږي .دصاحبينوپه نزدداخترپه ورځ پسې موقت ده وړاندي جائزنه ده .

ف: دامام صاحب قول راجح دی كمافي الفقه الاسلامي :وعلى الرای الاول وهو الراجح يكون زمان ذبح الهدی مطلق الوقت لايتوقت بيوم النحر سواء كان الاحصار عن الحج ام عن العمرة (الفقه الاسلامي وادلته: ۳/۲۳۵۳)

ف: صاحبين رحمهما الله تعالى فرمايي چې په محصربالحج باندي دم احصارداخترپه ورځ ذبح كول لازم دي له دي څخه وړاندي جائزنه ده .صاحبين يې په دم قران اوتمتع باندي قياسوي .صاحبينوته ځواب وركړل شوی دی چې دادم جنايت دي ول چې له وخت څخه وړاندي حلاليدل جنايت دی اودجنايت دم په وخت پسې

مختص نه وي .البته دمحصربالعمرة په باره کې دائمه ثلاثه اتفاق دی چې په هروخت کې دم احصارذبح کولی شي داختروړځ متعینه نه ده ولی چې تحلل عن العمرة داخترپه ورځ پسې خاص نه دی .

(۲۰۸)یعنی محصربالحج که حلال شواوپه همدي کال یې حج اداء نه کړنو دده پرذمه په راتلونکي کال ددي حج قضاء لازمه ده اویوه عمره ده .دحج قضاء خودشروع فی الحج دصحیح والی په وجه سره واجب ده اوعمره په دي وجه واجب ده چې محصردحج دفوت کونکی په معنی کې دی اودحج په فوت کونکي باندي لازم ده چې عمره اداء کړي اوحلال شي بیاپه راتلونکي کال کې حج وکړي نومحصر به هم عمراوحج اداء کوي .دامام شافعی رحمه الله په نزدکه نفلی حج وو نوپه محصرباندي قضاء نشته . داحنافوپه نزدځنګه چې عمل په شروع کولوسره لازمیږي لهذادنفلی حج په صورت کې هم قضاء لازمه ده.

(۲۰۹)په محصربالعمرة باندي قضاء لازمه ده ولی چې عمل په شروع کولوبیاماتولوسره (که څه هم نفلی عمل وي)قضاء لازمیږي .دامام شافعی اوامام مالک په نزدپه عمره کې احصارنشته ولی چې عمره په وخت پسې موقته نه ده چې داحصارپه وجه سره فوت شي .احناف وایې چې داحصاربالحج په صورت کې حلال والی په دي وجه سره مشروع دی ترڅودامتداداحرام ضررد فع شي اودامتداداحرام ضرر داحصارعن العمره په صورت کې هم موجودیږي .

(۲۱۰)که قارن محصرشونوراتلونکی کال یوحج اودوه عمري پرده لازمي دي .دحج اویوي عمري وجه خوهغه ده کومه چې داحصاربالحج المفردپه بیان کې ذکرشوه اوعمره ثانی په دي وجه سره لازمه ده چې قارن له حج سره دیوي عمري احرام هم تړلی وو نوداحصارپه وجه سره دهغې قضاء هم لازمه ده .

(۲۱۱)فَإِنْ بَعَثَ ثُمَّ زَالَ الْإِحْصَارُ وَقَدَرَ عَلَى الْهَدْيِ وَالْحَجِّ تَوَجَّهَ وَإِلَّا لَا (۲۱۲)وَلَا إِحْصَارَ بَعْدَمَا وَقَفَ بِعَرَفَةَ (۲۱۳)وَمَنْ مُنِعَ بِمَكَّةَ عَنِ الرُّكْنَيْنِ فَهُوَ مُحْصَرٌ وَإِلَّا لَا

ترجمه :اوکه محصردم ولیږدولې بیازائل شواحصاراودی قادرشوپرحج اودم دواړوموندلوباندي نوروان دي شي کنه نونه دي ځې ،اواحصارنشته پرعرفات له دریدلوڅخه وروسته ،اوکوم کس چې بندکړای شوپه مکه مکرمه کې له دواړورکنونوڅخه نومحصردی که نه نو محصرنه دی .

تشریح :((۲۱۱)یعنی که محصردچاپه لاس هدی ولیږدوله اوورته ویې ویل چې په فلانکی معینه ورځ یې ذبح کړه اوس له هدی لیږدولوڅخه وروسته دمحصراحصارختم شونودي څلورقسمه جوړیږي . /نمبر۱. دومره وخت شته چې محصرحج اوهدی دواړه موندی شي . /نمبر۲.دواړه نشي موندای . /نمبر۳.صرف هدی موندی شي حج نشي موندای . /نمبر۴.صرف حج موندی شي هدی نشي موندی .

داولنی صورت حکم دادی چې محصرته له احرام څخه حلالیدل جائزنه دي بلکه ولاړدي شي اوحج دي وکړي ولی چې له حصول مقصودبالخلف (یعنی هدی)څخه وړاندي عجززائل شو .په دوهم صورت کې تلل عبث دي په دي وجه دي نه ځې. په دریم صورت کې هم دنه تللوحکم دی بلکه په هدی ذبح کولوسره دي تحلل حاصل کړي ولی چې له اصل څخه عاجزدی .دڅلورم صورت حکم دادی چې تلل اودحج اعمال اداء کول افضل دي مګراستحساناتحلل بالذبح جائزدی ولی چې په دي ډول کولوسره مال له ضائع کیدلوڅخه

ساتل کیږي ولی چې مال هم دنفس په څیر محترم دی .قوله والالای وان لم یقدعلی ادراکهمااوادراک احدهمالایجب علیه التوجه.

(۲۱۲)یعنی که چاوقوف عرفات وکړیاهغه له باقی مانده احکامو څخه منع کړای شونوهغه ته محصرنه ویل کیږي ولی چې داحصارسبب دحج دفوت والی خوف دی حال داچې له وقوف عرفات څخه وروسته دحج دفوتیدلوخوف نه دي پاتې ولی چې دنبی کریم ﷺ ارشاددی .﴿من وقف بعرفة فقدتم حجه﴾ (چاچې وقوف عرفات وکودهغه حج پوره شو).

(۲۱۳)یعنی کوم کس چې په مکه مکرمه کې له اداء درکنینویعنی وقوف عرفات اوطواف زیارت څخه بندکړای شونوداکس محصردی په دي وجه چې دی له اتمام حج څخه معذوردی .قوله والالای ان لم یمنع عن الرکنین فلایکون محصرا .یعنی که له طواف زیارت اووقوف عرفات دواړوڅخه منع نه کړای شوبلکه له دواړوڅخه دیوه په اداء کولوده ته قدرت حاصل شونوداکس محصرنه دی په دي وجه چې په وقوف عرفات دقدرت په صورت کې دده حج پوره کیږي لهذامحصرنه دی اوپه طواف زیارت دقدرت په صورت کې په طواف کولوسره حلالیږي دهغه دلیږدولوضرورت نشته په دي وجه محصرنه دی .

بَابُ الْفَوَاتِ

داباب دحج دفوت کیدلوپه بیان کې دی

فوات په لغت کې عدم الشئ بعدوجوده ته ویل کیږي اوشرعاًدحج فوات دادی چې له چاڅخه وقوف عرفات فوت شي. فوات اواحصاردواړه له عوارضوڅخه دي په دي وجه په دواړوکې مناسبت موجود دی بیاځرنگه چې احصارنبی کریم ﷺ ته پیښ شوی وو په دي وجه یې احصارله فوات څخه وړاندي ذکرکړ،همدارا ز احصارداحرام بلااداء ارکان نوم دی اوفوات داحرام اوځینې ارکانوداداء کولونوم دی نواحصاربمنزله مفرددی اوفوات بمنزله مرکب دی اومفردمقدم وي له مرکب څخه په دي وجه یې احصارله فوات څخه مقدم کړ.

(۲)من فاتهُ الحَجُّ بفوتِ الوقوفِ بعرفةَ فليتحللْ بعمرةٍ وعليهِ الحجُّ من قابلٍ بلادمٍ ولافوتَ لِعُمرةٍ (۲۱۵)وهيَ طوافٌ وسعيٌ وتصحُّ في السنةِ وتكرهُ يومَ عرفةَ ويومَ النحرِ وأيامَ التشريقِ (۲۱۶)وهيَ سُنَّةٌ

ترجمه :دچاحج چې فوت شې دوقوف عرفات دفوتیدلوپه وجه سره نودی دي خپل ځان حلال کړي په عمره کولوسره اودده پرذمه حج دی راتلونکی کال بغیرله دم څخه اوفوت والی نشته دعمري لپاره . اوهغه طواف ده اوسعی ده اوصحیح ده په ټول کال کې اومکروه ده دعرفات اواخترپه ورځ اوپه ایام تشریق کې اوهغه سنت ده .

تشریح:(۲۱۴)یعنی چاچې دحج احرام وتړی (خواه که حج فرض وي یانفل وي که صحیح وي که فاسدوي)نوکه دنهم ذی الحجه له زوال څخه دیوم نحرترطلوع فجرپوري یې وقوف عرفه ونه کړای شونوددي کس حج فوت شوپه دي وجه چې وقوف عرفه رکن دی اودکوم عمل درکن په فوت کیدلوسره عمل فوتیږي .اوس دده لپاره داحکم دی چې عمره دي وکړي اوځان دي حلال کړي یعنی په همدي احرام دي دبیت الله طواف

اوسعی بین الصفا والمروه وکړي حلال دي شي او راتلونکی کال دي ددي حج قضاء راوړي لقوله ﷺ ﴿من فاته عرفة بليل فقد فاته الحج فليتحلل بعمرة وعليه الحج من قابل﴾ (يعنی دچاچې وقوف عرفه په شپه کې فوت شوه نوده حج فوت شونودی دی عمره وکړي ځان دي حلال کړي اوده پرذمه ائنده کال حج لازم دی).ځرنګه چې له فوات الحج وروسته ده دعمري په افعالو (طواف اوسعی)سره تحلل حاصل کړی په دي وجه پرده دم لازم نه دي .

ف :دامام شافعي رحمه الله په نزدپه داسې کس باندي دم هم لازم دي همدادحسن بن زيادقول دی ولی چې له حضرت عمر رضي الله عنه ځخه همداشان مروی ده ،امام شافعي رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې داکس په افعال عمره سره حلال شوی دی اودم دافعال عمره بدل دی لهذادواړه به نه سره جمع کوي ترکومه چې دحضرت عمر رضي الله عنه روايت دی نوهغه زموږ په نزدپه استحباب باندي محمول دی .

(۲۱۵)يعنی دعمري ارکان دبيت الله طواف اودصفااومره ترمنځ سعی ده او احرام شرط دی .عمره کله هم نه فوت کيږي ولی چې دعمري لپاره کوم وخت متعين نه دی په ټول کال کې هروخت اداء کيدای شي .البته صرف په پنځوورځوکې عمره اداء کول مکروه تحريمي ده يعنی په يوم عرفه (نهم ذی الحجه)يوم النحر(لسم ذی الحجه)اوايام تشريق (يولسم، دولسم ،ديارلسم ذی الحجه)کې .په دي ورځوکې عمره په ځکه مکروه تحريمې ده چې داايام الحج دي نودادحج لپاره متعينې دي ،همداراز حضرت عائشه رضي الله عنها په دي ورځوکې عمره مکروه ګڼله .

(۲۱۶)يعنی داحنافودصحيح قول مطابق عمره سنت مؤکده ده که ځه هم ځينې يې واجب بولي لقوله ﷺ ﴿الحج فريضة والعمرة تطوع﴾(يعنی حج فرض دی او عمره تطوع ده):علامه علاؤالدين الحکفی رحمه الله فرمايی والعمرة فی العمرمرة سنة مؤكدة على المذهب (الدر المختارعلى هامش ردالمحتار:۲/۱۶۳)

ف :دامام شافعي رحمه الله دعمري دفرضيت قائل دی لقوله تعالی ﴿وأتموا الحج والعمرة لله﴾وقال ﷺ ﴿العمرة فريضة كفريضة الحج﴾ .داحنافودليل داعرابی حديث دی ﴿قال يارسول الله اخبرنی عن العمرة اواجبة هی فقال ﷺ لاوان تعتمر خيرلک﴾ (يارسول الله ﷺ ماته دعمري په باره کې خبرراکړه چې اياعمره واجب ده ؟نبی کريم ﷺ وفرمايل يا(نه ده واجب)که ته عمره وکړي نوداستالپاره بهتره ده).باقی په ايت مبارک کې داتمام ذکردی اواتمام له شروع ځخه وروسته وي اوله شروع ځخه وروسته موږهم دوجوب عمره قائل يو .اودحديث شريف مطلب دادی چې دعمري افعال هم مقدردي لکه ځرنګه چې دحج افعال مقدروي ،فريضة په معنی دمقدرة .

باب الحج عن الغير

داباب دبل چاله طرف ځخه دحج کولوپه بيان کې دی

اصل خودادہ چې دانسان عمل دخپل ځان لپاره وي په دي وجه له دي ځخه وړاندي دخپل ځان لپاره دحج کولوبيان وو اوس دغيرله طرف ځخه دحج کولواحکام بيانوي .

ف :دکوم عمل ثواب بل ته دبخښلوپه باره کې داهل سنت اومعتزله ګانواختلاف دی دمعتزله وپه نزدجائزنه دی لقوله تعالی ﴿وأن ليس للإنسان إلا ما سعى﴾ (يعنی دانسان لپاره هم هغه ځه دي کوم چې ده سعی کړي وي

)لهذا دكوم دپاره چې انسان خپله سعى ونه كړي دهغه ثواب ده ته نه رسيږي .داهل سنت په نزد دخپل عمل ثواب بل ته وربخښل صحيح دي داهل سنتو دليل دنبى كريم ﷺ عمل دى چې ﴿أَنَّهُ ﷺ ضَحَّى بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَحَدُهُمَا عَنْ نَفْسِهِ وَالْآخَرُ عَنْ أُمَّتِهِ﴾ (يعنى نبى كريم ﷺ دوه دتورا وسپين رنګ پسونه ذبح كړل يوله خپل طرف څخه اودوهم دخپل امت له طرف څخه)،نوله دي څخه ثابته شوه چې دخپل عمل ثواب بل ته وربخښل صحيح دي ،معتزله و ته ځواب وركړل شوى دى چې په ايت شريف كې له سعى څخه سعى ايمانى مرادده يعنى ديوه كس ايمان بل كس ته مفيدنه دى سعى عملى مرادنه ده .

(۲۱۷)النِّيَابَةُ تَجْزِي فِي الْعِبَادَةِ الْمَالِيَّةِ عِنْدَ الْعَجْزِ وَالْقُدْرَةِ (۲۱۸)وَلَمْ تَجُزْ فِي الْبَدَنِيَّةِ بِحَالٍ (۲۱۹)وَفِي الْمُرَكَّبِ مِنْهُمَا تَجْزِي عِنْدَ الْعَجْزِ فَقَطْ (۲۲۰)وَالشَّرْطُ الْعَجْزُ الدَّائِمُ إِلَى وَقْتِ الْمَوْتِ (۲۲۱)وَإِنَّمَا شَرْطُ عَجْزِ الْمَنُوبِ لِلْحَجِّ الْفَرْضِ لَا لِلنَّفْلِ

ترجمه :اونيابت جاري كيږي په عبادات ماليه وكې په وخت دعجزكې هم اوپه وخت دقدرت كې هم ، اوپه بدنى عبادات كې په هيڅ حال كې نه جاري كيږي ،اوكوم چې له دواړو څخه مركب وي په هغه كې صرف دعجزپه وخت جاري كيږي، اوشراط دائمي عجزدى دمرګ تروخت پوري ،اوشرط كړل شوى دى دنائب جوړونكي دحج فرض څخه عاجزوالى نه له نفلى حج څخه .

تشريح :(۲۱۷)عبادات پردري قسمه دي (۱)محض مالي عبادات لكه زكوة (۲)محض بدني عبادات لكه روژه ،لمونځ، اعتكاف وغيره (۳)كوم چې له دواړو څخه مركب وي لكه حج ،چې په دي كې مال هم مصرفيږي اونفس هم په مشقت كې اچول كيږي .په دي دريو اقسامو كې په اولنى قسم كې په هرحال نيابت جاري كيږي يعنى داختيارپه حالت كې هم اود اضطرارپه حالت يعنى دناروغي اومعذوري وغيره په حالت كې هم ولى چې له زكوة څخه مقصوددادى چې مال فقراؤته ورسيږي او دفقراؤضرورت پوره شي نوكله چې ده دخپل وكيل په ذريعه سره مال فقراؤته ورساوو نوعبادت پوره شو .په ځينونسخوكې دالنيابة تجري پرځاى النيابة تجزى دى په معنى دمستغنى كولوسره .

(۲۱۸)اوپه دوهم قسم يعنى عبادات بدني كې په هيڅ حال كې هم نيابت نه جاري كيږي نه داختيارپه حالت كې اونه داضطرارپه حالت كې لقوله ﷺ لايصم احدعن احدولايصل احدعن احد(څوک دي دچاله طرفه روژه نه نيسى اونه دي څوک دچاله طرفه لمونځ اداء كوي)،همدارله عبادت بدنى څخه مقصوددعابدخپل نفس په تعب اومشقت كې اچول كې دي اوښكاره خبره ده چې دامقصوددوكيل اونائب په ذريعه سره نه حاصليږي ولى چې دوكيل اونائب په صورت كې تعب اومشقت دوكيل اونائب وي نه دموكل لهذا په دي قسم كې نيابت صحيح نه دى .

(۲۱۹)اوپه دريم قسم (يعنى كوم چې له بدني اومالي دواړو څخه مركب وي)كې څرنګه چې دواړه اړخه شته دمالي عبادت اړخ هم اودبدني عبادت اړخ هم په دي وجه په دواړومشابهتونوپه عمل كولوسره وويل شول چې صرف دعجزپه وخت په ده كې نيابت جاري كيداى شي دمالي اړخ په رعايت كولوسره ،اوبلاعجزپه ده كې نيابت نه شي جاري كيداى دبدني اړخ په رعايت كولوسره .

(۲۲۰)بياپه دي دريم قسم كې وقتى عجزكافى نه دى بلكه دائم الى وقت الموت عجزشرط دى ولى چې حج دعمرفريضه ده كوم كال دده لپاره متعين نه دى نوكه عجزدائمي نه وي نوداكس عاجزنه شمارل

کېږي .نوکه چادمرض ياقيدپه حالت کې کوم بل څوک نائب جوړکړاوحج ته يې واستاووبياپه خپله روغ ياازادشونودنائب له طرف اداء شوی حج کافي نه دی.

(۲۲۱)مگرداچې وويل شوچې دآمردائمي عجزشرط دی دافرض حج حکم دی دنفلي حج حکم دانه دی بلکه په هغه کې بلاعجزهم نيابت جائزدی ولی چې دنوافلوپه باب کې وسعت ډيردی کوم چې په فرائضوکې نه وي همدا وجه ده چې نفلي لمونځ سره له قدرت علی القيام په ناسته سره جائزدی.

ف:ظاهرمذهب دادی چې حج دآمرله طرفه کېږي دمامولـه طرفه نه ،حال داچې دامام محمد رحمه الله په نزددمامورله طرفه واقع کېږي آمرته دمصرف ثواب حاصلېږي ولی چې حج بدل دصوم دفديې په شان دی ،اوښکاره خبره ده چې دروژې دفديې ورکولوپه صورت کې دفديې ثواب حاصلېږي نه دروژې ثواب ،همداشان آمرته دمال مصرفولوثواب حاصلېږي نه دحج داداء کولو کماقال الشيخ عبدالحکيم الشهيد:ثم ظاهر المذهب ان الحج يقع عن المحجوج عنه وهذاظاهر المذهب کذانقله شمس لائمة السرخسي وهو الصحيح کمافي کثيرمن الکتب لکن ذهب عامة المتأخرين کمافي الکشف الی ان الحج يقع عن المامورو للآمرثواب النفقة وهورواية عن الامام محمدواختاره المتأخرين منهم صدرالاسلام والاسبيجابي وقاضيخان ان القول اقرب الی الفقه لکن صحح في فتاواه القول الاول(هامش الهداية: ۲۷۷/۱)

ف:مولاناخالدسيف الله رحماني مدظله ليکي :فقهاؤويلي دي چې په حج بدل کې حج افراديا حج قران کيدای شي ،حج تمتع نشي کيدای،مگردفقهاؤله ځينوعباراتوڅخه دحج تمتع جوازهم معلومېږي ......په ماضي قريب کې مفتي محمدشفيع صاحب رحمه الله له ځينوشرائطوسره اجازت ورکړی دی.

ليکن په دې زمانه کې عام انسان په حج اوعمره کولوکې ازادنه دی چې کله اوپه کوم وخت کې چې يې زړه وغواړي ولاړشي اودطول احرام څخه دخلاصيدلولپاره ايام حج ته بالکل قريب سفروکړي .هرطرف ته دحکومتونوسختې پابندیانې دي ،په دې وجه که کوم حج بدل کونکې لره له وخت څخه ډيروړاندې دتللومجبوري وي اوپه احرام طويل کې داحرام دواجباتوپابندي سخته ورته ښکاره شي نوده لره دتمتع کولوگنجائش شته.

په دې وجه په موجوده حالاتوکې که دافراداوقران په وجه سره تردومره ورځوپورې په حالت احرام کې پاتې کيدل وي چې حاجې لره دهغه برداشت کول مشکل وي نوپه حج بدل کې هم دتمتع گنجائش شته .(جديدفقهي مسائل :۱۶۳/۱).

(۲۲۲)وَمَنْ أَحْرَمَ عَنْ آمِرَيْهِ ضَمِنَ النَّفَقَةَ (۲۲۳)وَدَمُ الْإِحْصَارِ عَلَى الْآمِرِ (۲۲۴)وَدَمُ الْقِرَانِ وَدَمُ الْجِنَايَةِ عَلَى الْمَأْمُورِ (۲۲۵)فَإِنْ مَاتَ فِي طَرِيقِهِ يُحَجُّ عَنْهُ مِنْ مَنْزِلِهِ بِثُلُثِ مَا بَقِيَ (۲۲۶)وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ عَنْ أَبَوَيْهِ فَعَيَّنَ صَحَّ

ترجمه :اوچاچې احرام وتاړه ددوامرکونکوله طرف څخه نودی ضامن دی دنفقې ،اودم احصاربرامر کونکې باندې دي،اودم قران اودم جنايت پرمامورباندې دي .نوکه هغه مړشوپه لاره کې نوحج دې وکړای شي دده له طرف څخه دده له کوره دباقي مانده دثلث په ذريعه سره ،اوچاچې احرام وتاړه دموراوپلارله طرف څخه بيايې يومتعين کړنوصحيح دی.

تشريح :(۲۲۲)که په دووکسانوکې هريوه يوکس دده له طرفه دحج په اداء کولوکې وکيل جوړکړنودې وکيل ددواړوله طرف څخه احرام وتړی نوداحج په خپله دوکيل له طرفه کېږي دموکلانوله طرفه نه کېږي ولی

چې په آمرانو کې هريوه ده ته ددي خبري حکم کړی وو چې بلاشرکت غيردي دده له طرفه حج اداء کړي حال داچې وکيل خودده مخالفت وکړدده دحکم مطابق عمل يې ونه کړلهذاداحج دامرانوله طرف څخه نه کيږي .اووکيل دهغه مال ضامن دی کوم چې دله امرانو څخه مصرف کړی دی ولی چې ده دموکل مال دخپل ذاتی حج لپاره مصرف کړ.

(۲۲۳)که داوکيل محصرشواوده ددم احصارقرباني وکړه اوحلال شونودادم دطرفينوپه نزدپه موکل واجبيږي اودامام ابويوسف رحمه الله په نزدپروکيل واجب دي ولی.چې دم احصاردحلال والی لپاره واجبيږي ترڅوداحرام دمدی دطويل والی ضررختم شي اوظاهره ده چې ضرردوکيل دی نودم احصاربه هم پروکيل واجب وي .دطرفينودليل دادی چې وکيل خوپه دي ذمه واري کې موکل مبتلاکړی دی نوچاچې مبتلاکړی دی خلاصوالی يې هم پرهغه واجب دی.

ف:دطرفينوقول راجح دی لمافي الدرالمختار:ودم الاحصارلاغيراى لاغيردم الاحصارمن باقي الدماء الثلاثة وهودم الشكرفي القران والتمتع ودم الجناية(على الامر)هذاعندهماوعليه المتون وعندابي يوسف على المامور(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: ۲/۲۶۷)

(۲۲۴)اودم قران پروکيل يعنی دمامورپرذمه لازميږی نه پرموکل ،ولی چې دم قران دالله تعالی له طرف څخه دجمع بين النسکين دتوفيق دشکرپه طورسره واجبيږي اوتوفيق وکيل ته ورکړل شوی دی لهذادم به هم دوکيل پرذمه وي ،همداشان دم جنايت هم دوکيل يعنی ماموپرذمه لازم دي ولی چې دجنايت صدورله وکيل څخه شوی دی نه له موکل څخه په دی وجه به دم هم دوکيل پرذمه وي.

ف:ددم قرن صورت دادی چې دووامرانويوکس ته امروکړيوه وويل چې زماله طرف څخه حج اداء کړه ،دوهم وويل چې زماله طرف څخه عمره اداء کړه دواړه ده ته دحج قران اجازه ورکړه وکيل حج قران اداء کړپه کوم کې چې دامرانودوينا مطابق حج اوعمره دواړه اداء شول نوپه دي صورت کې چې کوم دم قران دي هغه دوکيل پرذمه دي .اوکه يوه کس دی دحج وکيل جوړکړدی ولاړی جج قران يې اداء کړنودا دموکل دامرمخالفت ګڼل کيږي لهذا اوکيل به دموکل دنفقې ضامن وي.

(۲۲۵)اوکه وکيل يعنی ماموربه لاره کې مړشونودکوم چاله طرفه چې دی دي حج ته روان وو دهغه له باقی ترکه څخه دي ثلث مال راوخيستل شي دهمدي آمرله طرفه دي دده له کورڅخه دوهم ځل حج وکړای شي په دي شرط چې دمابقی ثلث دده له کورڅخه دحج کولودپاره کافی وي اوکه دمابقی ثلث دده له کورڅخه دحج کولودپاره کافی نه وي نوبياچې له کومه ځايه دحج کولولپاره کافی وي له هغه ځايه دي وکړي دادامام ابوحنيفه رحمه الله قول دی .صاحبين فرمايي چې له هغه ځايه دي حج وکړل شي چيرته چې دوکيل مړګ واقع شوی دی .دااختلاف پريوبل اختلاف باندي مبنی دی هغه داچې يوڅوک دخپل فرضی حج دادا، کولولپاره روان وو چې په لاره کې ناروغه شواووصيت يې وکړچې زماله طرفه څخه حج وکړئ بيامړشونودامام صاحب په نزدبه دده له کوره څخه حج کول کيږي اوصاحبين فرمايي چې چيرته دی وفات شوله هغه ځايه دي حج وکړای شي ،دامام صاحب دليل دادی چې څومره سفرچې ده کړی دی هغه داحکام دنياپه حق کې باطل دی اودوصيت تنفيذهم له احکام دنياڅخه دی لهذابيرته به يې له سره راګرځوي

گويادی بالکل له کوره نه دی وتلی.صاحبين فرمايي چې دده داعمل يعنی سفرحج نه ده باطل شوی لهذاپرهمدي بناء کول صحيح دي نوچيرته چې دی وفات شوی دی له هغه ځايه دي حج وکول شي.

ف:دامام صاحب قول قياس دی اودصاحبينوقول استحسان دی اوداله هغوځايونوڅخه دی په کوم کې چې قياس ته پراستحسان ترجيح حاصله ده کمافی الشامية:واعلم ان هذاالموضع من المواضع التی رجح فيهاالقياس علی الاستحسان واخرصاحب الهداية قولهماوهوالاستحسان فظاهرصنعه يقتضی ترجيح الاستحسان لکن المتون علی الاول اعنی علی اختياروجه القياس وصرح علامة قاسم بتصحيحه فی کتاب الوصايالهذاالموضع مماقدم فيه القياس علی وجه الاستحسان (ردالمحتار:۲/۲۶۳)

ف:امام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې لومړی ځل چې يې کوم دترکې ثلث عليحده کړی دی دهغه په باقی مانده باندي دی حج وکړای شي ،امام محمد رحمه الله فرمايي کوم مال چې يې وکيل ته ورکړی وو که له هغه څخه څه پاتې وي نوپه هغه دي حج وکړای شي که په هغه سره حج نه شوای کيدای نووصيت باطل دی .امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد (لکه څرنگه چې تيره شوه)داده چې دچاله طرفه چې دی حج ته روان وو دهغه له باقی مانده ترکه څخه به يوثلث مال واخلي دهمدي آمرله طرف څخه دي دوهم ځل حج وکړای شي اوهمداقول راجح دی کمافی الهندية:اذااوصی بان يحج عنه فمات الحاج فی طريق الحج يحج عنه من منزله بثلث مابقی من ماله وهذاعندابی حنيفه کذافی التبيين (هنديه:۱/۲۰۹)نودائمه ثلاثه ودااختلاف په دووځايونوکې دی يوداچې حج له کومه ځايه څخه وکړای شي اودوهم داچې په کوم مال سره وکړای شي.

(۲۲۶)که چادخپل موراوپلارله طرف څخه احرام وتړی اووروسته يې په دوئ کې ديوه لپاره متعين کړنوداصحيح دی ولی کوم څوک چې دغيرله طرف څخه دغيردوينابغيرحج کوي نوهغه همداکوي چې دخپل حج ثواب دي غيرته وربخښي اوخپل ثواب بل چاته وربخښل داحرام پروخت لغودي ولی چې تراوسه حج شوی نه دی نوثواب به څرنگه بل ته وروبخښي لهذااحرام پروخت چې کوم دده دواړوپاره نيت کړی وو هغه نيت لغودی نوله حج کولوڅخه وروسته چې دکوم لپاره متعين کول وغواړي کولی يې شي.

ف:نن صباچې کوم دمرده له وصيت څخه بغيرده قريبان دده له طرف څخه حج کوي کوم ته چې عوام حج بدل وايي دااصطلاحي حج بدل نه دی بلکه داداايصال ثواب لپاره نفلی حج دی لکه څرنگه چې حضرت مولانامحمديوسف لدهيانوی شهيد رحمه الله ديوسوال په ځواب کې ليکي .که وصيت نه وي نوڅرنگه چې يې خوښه وي حج کولی شي هغه حج بدل نه دی بلکه دايصال ثواب لپاره دی دکوم چې به ثواب الله تعالی هغه ته رسوي دچاله طرف څخه چې کړل شوی وي .(اپکی مسائل اوران کاحل :۴/۶۹)

ف:افضل اوبهترخودتولوفقهاؤپه نزدداده چې حج بدل په هغه کس سره وکړای شي چاچې خپل حج فرض اداء کړی وي اوچاچې خپل فرضی حج نه وي اداء کړی دهغه په ذريعه سره حج بدل کول مکروه تنزيهي ده اوکوم کس چې حج بدل ته ليږل کيږي که دده پرذمه خپل فرضی حج وي اوهغه يې نه وي اداءکړی نودده لپاره حج بدل کول مکروه تحريمي اوناجائزدی البته دليږونکي حج به په هرصورت اداء کيږي .(فتاوی عثمانی :۲/۲۱۴)

ف:چاچې خپل حج نه وي کړی اوپرده فرض هم نه وو نومحض مکي مکرمې ته په رسيدلوسره پرده دراجح قول مطابق حج نه فرضيږي .(فتاوی عثمانی :۲/۲۱۵)

بَابُ الْهَدْيِ

داباب دهدی په بیان کې دی

له دې ځخه وړاندې دحج په تفصیلي بیان کې دهدی ذکر څو ځله وشونو اوس مصنف رحمه الله دهدی او دهدی دمتعلقاتو تفصیل بیانول غواړي، همدارازحج تمتع، قران، جنایات، احصاروغیره دهدی اسباب دي هدی مسبب ده او مسبب له سبب ځخه وروسته وي په دی وجه يې به اخرکې دهدی احکام ذکرکوي، هدی لغةً اوشرعاً، مایهدی الی الحرم من النعم للتقرب (یعنی هدی هغه ځاروی دی کوم چې دتقرب لپاره حرم ته بوتلل شي)ته ویل کیږي.

(۲۲۷)أدناه شاة وهو إبل وبقر وغنم (۲۲۸) وما جاز في الضحايا جاز في الهدايا (۲۲۹) والشاة تجوز في كل شيء إلا في طواف الركن جنبا ووطء بعد الوقوف بعرفة (۲۳۰) ويأكل من هدي التطوع والمتعة والقران فقط (۲۳۱) وخص ذبح هدي المتعة والقران بيوم النحر فقط (۲۳۲) والكل بالحرم لا بفقيره

ترجمه: ادنی هدی پسه دی او هغه اوښ، غوا اوپسه ځخه کیدای شي، اوکوم ځاروی چې په اضحیه کې جائزدی هغه په هدی کې هم جائزدی، اوپسه جائزدی په هرشي کې مګردطواف رکن په حالت جنابت کې دکولو په صورت کې او دوطی کولو په صورت کې له وقوف عرفه ځخه وروسته، اوخورک کولی شي صرف له هدی تطوع او هدی متعه او هدی قران ځخه، او خاص ده ذبح کول دهدی تمتع اوهدی قران داختر له ورځې سره، اوټولې خاصې دي له حرم سره نه له فقیره دحرم سره.

تشریح: (۲۲۷)یعنی دهدی ادنی قسم پسه دی، اوهدی له دری قسمه ځارویو ځخه کیدای شي اوښ، غوا، اوپسه ولی چې هدی هغه ده کومه چې دتحفې په ډول سره حرم ته ولیږدول شي ترڅو په حرم کې ددې په ذبح کولو سره تقرب حاصل شي په دې معنی کې دادري واړه اقسام برابردي نوله هریوه ځخه هدی کیدای سي. همدارازددې دري قسمه ځارویو دنبی کریم ﷺ له زمانې ځخه ترننه پورې بطورهدی بیول متوارث هم دي. بیابنکاره ده چې په دوئ کې ادنی پسه، اوسط غوا او اعلی اوښ دی.

(۲۲۸)یعنی کوم قسم ځاروی چې په اضحیه کې ذبح کول جائزدی هغه په هدی کې هم جائزدی ولی چې هدی هم داضحیه په شان داسې قربت دی کوم چې له وینې تویولو سره متعلق دی نوکوم شرائط چې داضحیه دځاروی لپاره دي چې له عیوبو ځخه به سالم وي هغه شرائط دهدی دځاروي لپاره هم دي.

ف: داهم شرط دی چې له دوئ ځخه چې کوم یو هم وي ثنی به وي یاله ثنی ځخه به اعلی وي. بیاداوښانو ثنی دادی دکوم چې پنځه کاله پوره شوي وي او شپږم کال يې شروع وي. اودغوا ثنی داده چې دوه کاله يې پوره شوي وي اودریم يې شروع وي. اودپسه ثنی هغه ده دکوم چې یوکال مکمل شوی وي اودوهم يې شروع وي. البته پسه که بنه چاغ وي کوم چې دچاغښت له کبله دثنی سره برابر معلوميږي نوجزع یعنی له ثنی ځخه دکم عمروالاهم جائزدی لقوله ﷺ لاتذبحوا الامسنة الاان یعسر علیکم فتذبحوا جذعة من الضان (تاسې له مسنه ځخه ماسوا دقرباني ځاروی مه ذبح کوئ اماسوا له هغه ځخه چې که تاسې ته داسې ځاروی نه شوملاونوتاسې له یوه کال ځخه دکم عمر دپسه بچی ذبح کړئ).

(۲۲۹)یعنی دحج په باب کې چې چیرته هم دوجوب دم اووجوب هدی حکم وي هلته ده پسه ذبح کول کافی ده مګردوه مواقع داسې دي چیرته چې اوښ ذبح کول ضروري ده پسه کافی نه ده .یوداچې کوم محرم طواف زیارت دجنابت په حالت کې وکړی اودوهم داچې له وقوف عرفه څخه وروسته اوله حلق الراس څخه وړاندی کوم محرم جماع وکړي ،ځرنګه چې دادوه جنایتونه لوی دي په دي وجه سره په دي دوو ځایونو کې بدنه ذبح کول ضروري ده پسه کافی نه ده ترڅوپه لوی اوکوچنی جنابت کې فرق ښکاره شي.

ف:دبعدالوقوف بعرفة قیدپه لګولوسره یې احترازوکړله دي صورت څخه چې کوم حاجی له وقوف عرفات څخه وړاندې جماع وکړي ولی چې په دي صورت کې اوښ نه دی واجب بلکه پسه ذبح کول واجب دی .اودقو ل صحیح مطابق که څوک له وقوف عرفات څخه وروسته سرهم وخریې بیاجماع وکړي نوپرده هم اوښ نه ده واجب بلکه پسه واجب دی کمافی الدرالمختار:ووطء بعدالوقوف قبل الحلق امابعده ففی وجوبهاخلاف والراجح وجوب الشاة(الدرالمختارمع الشامیة:۲/۲۷۱)

(۲۳۰)یعنی صاحب هدی لره له دم تطوع ،دم تمتع اودم قران څخه خورک جائزبلکه مستحب دی ولی چې نبی کریم ﷺ دخپلې هدی غوښه هم وخوړله اوشوروایې هم وڅښله ،مګرشرط دادی چې هدی حرم ته ورسیږي ،اوکه حرم ته له رسیدلو څخه وړاندي ذبح شوه نوله دي څخه له فقراؤ ماسواهیڅ څوک خورک نشي کولای.

ف:همداشان له مذکوره بالادري قسمه هدایاوڅخه اغنیاء هم خورک کولی شي ولی له کومې هدی څخه دصاحب هدی دپاره خورک جائزوي له هغې څخه غنی لره هم خورک جائزدی.

ف:مصنف رحمه الله په لفظ دفقط سره اشاره وکړه چې له دم تطوع ،دم قران اودم تمتع څخه علاوه (مثلادم کفاره ،دم نذراودم احصار)صاحب هدی اونوراغنیاء نشي خورلی هغه به خاص فقراء خوري ولی کوم وخت چې نبی کریم ﷺ په مقام حدیبیه کې له عمري کولو څخه منع کړای شونونبی کریم ﷺ دناجیة الاسلمی رضي الله عنه په لاس هدایامکې مکرمې ته ولیږدولې اوویې وفرمایل﴿لاتاکل انت ورفقتک منهاشیئا﴾(ته اوستاملګری له دي څخه هیڅ مه خورئ)وقال ابن عابدین:(قوله ولواکل من غیرها)ای غیرهذه الثلاثة من بقیة الهدایاکدماء الکفارات کلهاوالنذورودمی الاحصاروالتطوع الذی لم یبلغ الحرم وکذالواطعم غنیا(ضمن مااکل)(ردالمحتار:۲/۲۷۱)

(۲۳۱)یعنی له هدایاوڅخه صرف هدی تمتع اوهدی قران داخترله ورځې سره خاص دي لقوله تعالی ﴿فکلوا منها واطعموا البائس الفقیر ثم لیقضوا تفثهم﴾(یعنی وخورئ تاسې له دي قرباني څخه اوورخورئ پریشان حال فقیرته بیاخیري لیري کړئ) اوقضاء تفث یعنی خیرمیري لیري کول له یوم نحرسره خاص دي نوپه کوموامورو چې قضاء تفث عطف دی هغه به هم له یوم نحرسره خاص وي ،همدارازدادم نسک دي لهذا داضحیه په څیربه داهم له یوم نحرسره خاص وي.

(۲۳۲)هرقسم هدایاله حرم سره خاصې دي له حرم څخه دباندي ذبح کول جائزنه دي لقوله تعالی ﴿هدیابالغ الکعبة﴾ (هغه هدی کعبې ته رسیدونکې)،همدارازپه دي وجه سره هم چې هدی دداسې شي نوم دی کوم چې هدیة وتحفة کوم ځای ته ویوړل شي اوهغه ځای حرم دی .البته دتصدق لپاره حرم خاص نه دی په مساکین حرم ومساکین غیرحرم ټولوباندي یې صدقه کولی شې ولی چې صدقه قربت معقوله دی

نوپرهرفقيرصدقه كول قربت دى .هودحرم پرمساكينوصدقه كول افضل دى الاداچې نورخلګ ډېرمحتاج وي.

ف:قرباني پرڅلورقسمه ده (۱)كومه چې له مكان اوموان دواړوسره خاصه وي دادم تمتع اودم قران دي كوم چې له يوم نحراوحرم سره خاص دي ،اوهمداحكم ددم احصاردى دشيخينوپه نزد.(۲)كومه چې له مكان سره خاصه وي له زمانې سره خاصه نه وي لكه دم جنايات ،كوم چې له حرم سره خوخاص دي مګرله يوم نحرسره خاص نه دي ،همداحكم ددم احصاردى دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد ،اوهمداراجح دى كمافى الفقه الاسلامى وادلته :وعلى الرأى الاول وهوالراجح يكون زمان ذبح الهدى مطلق الوقت لايتوقت بيوم النحرسواء كان الاحصارعن الحج ام عن العمرة (۲۳۵۳/۳).(۳)كومه چې له زمانې سره خوخاص وي مګرله مكان سره خاص نه وي لكه اضحيه،چې له يوم نحرسره خاصه ده مګرپه كوم مكان پسې خاصه نه ده .(۴)كومه چې نه له مكان سره خاصه وي اونه له زمانې سره خاصه وي لكه دم نذردطرفينوپه نزد.

ف:قرباني يوداسې عمل دى چې په هغه كې نيابت صحيح دى په دي وجه دبېنک په واسطه سره په قرباني كولودقرباني فريضه اداء كيږي ،مګرپه دي كې ددي خبري خيال ساتل ضروري دى چې په حلق اوقرباني كې تقديم اوتاخيرنه وي كه نه نو دم جنايت لازميږي همداشان په قرباني كې دځاروى ذبح كول ضروري دى صرف په دقرباني دړوپه جمع كولوسره ذمه نه فارغيږي. (حقانية :۲۷۷/۴)

(۲۳۳)وَلَايَجِبُ التَّعْرِيفُ بِالْهَدْيِ(۲۳۴)وَيَتَصَدَّقُ بِجِلَالِهَا وَخِطَامِهَا(۲۳۵)وَلَمْ يُعْطِ أَجْرَةَ الْجَزَّارِ مِنْهَا(۲۳۶)وَلَايَرْكَبُهَا بِلَاضَرُورَةٍ (۲۳۷)وَلَايَحْلُبُهَا وَيَنْضَحُ ضَرْعَهَا بِالنُّقَاخِ(۲۳۸)وَإِنْ عَطِبَ وَاجِبًا أَوْتَعَيَّبَ أَقَامَ غَيْرَهُ مَقَامَهُ وَالْمَعِيبُ لَهُ(۲۳۹)وَلَوْتَطَوُّعًا نَحَرَهُ وَصَبَغَ نَعْلَهُ بِدَمِهِ وَضَرَبَ بِهِ صَفْحَتَهُ وَلَمْ يَأْكُلْهُ غَنِيٌّ(۲۴۰)وَتُقَلَّدُ بَدَنَةُ التَّطَوُّعِ وَالْقِرَانِ وَالْمُتْعَةِ فَقَطْ

ترجمه :اوواجب نه ده هدى عرفات ته بيول ،اوصدقه دي كړي دهدى ځل اولګام ،اونه دي وركوي قصاب ته مزدوري له هدى څخه ،اونه دي سوريږي په هدى باندي بلاضرورته ،اونه دي ددي شيدي لوښې اوودي پاشي ددي پرتيانوباندي يخې اوبه ،نوكه هلاكه شوه واجب هدى يامعيوبه شوه نودوهمه دي ددي پرځاى وكړي اومعيوبه به ده ته پاته شي ،اوكه نفلى وه نوذبح دي كړي اورنګ دي كړى ددي څپلى ددي په وينه سره اوودي لړي په وينه سره ددى اړخ اونه دي خوري داغني ،اوقلاده دي واچوي صرف په نفلى ،تمتع اودقران په هدى كې..

تشريح :(۲۳۳)هداياعرفات ته بيول واجب نه دي ولى چې واجب هدى ده كومه چې حرم ته ديبولوخبروركوي عرفات دبيولونه ،البته دم تطوع ،دم تمتع اودم قران عرفات ته بيول حسن دي ولى چې دادم نسک دي دكوم چې مبنى پرتشهيرده. باقى دم كفاره عرفات ته بيول حسن نه دي ولى چې ددم كفاره موجب جنايت دى په كوم كې تسترا ولى دى.

(۲۳۴)اوداهم حكم دى چې دهدى جهول(ځل) اولګام دي صدقه كړي .(۲۳۵)اودهدى غوښه دي جزار(قصاب)ته په مزدوري كې نه وركوي ولى چې نبى كريم ﷺ حضرت على رضي الله عنه ته فرمايلې وو چې دهداياوجهولونه اولګامونه صدقه كړه اوله دوئ څخه دقصاب مزدوري مه وركوه.

(۲۳۶)يعنى كه چاله ځان سره دقرباني څاروى بيولى وي نوكه ده ته پرهغه دسوريدلوضرورت نه وي نونه دي پري سوربږي ولى چې داده خالص دالله تعالى پرنوم كړي ده لهذادي عين يامنافع دخپل ځان دپاره مصرفول مناسب نه دي، نوكه داكس پرهدى سورشوچې په هغه سره هدى ته نقصان ورسيدو نوصاحب هدى ددي نقصان ضامن دى اوداضمان به په فقراوُصدقه كوي .

ف:البته كه ده لره په هغه دسوريدلويا سامان بارولوضرورت پيش شونوسوريدلى شي.اوسامان بارولى شي ولى چې نبى كريم ﷺ يوه كس ته دهدى په څاروى دسوريدلوحكم كړى وو ،دكوم چې علماؤ همداتاويل كړى دى چې هغه كس محتاج وو ،همدارز حرم ته له رسيدلوڅخه وړاندي هدى دده پرملک پاته ده همداوجه ده چې كه حرم ته له رسيدلوڅخه وړاندي دى وفات شونوهدى ميراث ګرځي لهذا دضرورت پروخت ده لره له دي څخه فائده اخيستل جائزده .

(۲۳۷)كه هدى شيدلرلې نوهغه دي نه لوبنې ولى چې شيدي له هدى څخه پيدا كيږي اودهدى جزء دي له كوم څخه چې ده لره فائده اخيستل مناسب نه ده لهذا شيدي دي خپل ځان لپاره نه لوبنې بلكه كه دذبح وخت قريب وي نودهدى په تيانودي يخې اوبه وروشيندي ترڅوشيدي وچې شي اوكه دذبح وخت ليري وي نوبيا ضررخطره ده لهذا شيدي دي ولوبنې اوصدقه دي كړي ،كه يې ولوبنلې نوصدقه كول لازم دي .

(۲۳۸)يعنى چاچې هدى له ځان سره هدى بيولې وي اوهغه هلاكه شي نوكه نفلى هدى وه نوپه بيونكې باندي هيڅ نشته ولى چې قربت له همدي سره متعلق وو كومه چې فوت شوه اوكه داهدى واجب هدى وي نوددي پرځاى بله هدى واجب ده ولى چې وجوب ددي كس پرذمه باندي باقى دى .اوكه ډيره عيب جنه شويعنى داسې عيب په كې پيدا شوكوم چې دقرباني لپاره مانع دى نوبيادي هم بل څاروى ددي پرځاى ودروي ولى چې واجب دده پرذمه باقى ده .اوداعيب داره څاروى دده دنوروا ملاكوپه څيرشوولى چې څاروى دهدى لپاره په متعين كولوسره هغه دمالک له ملک څخه نه وځي نوكله چې هغه په دى لاره كې دصرف كولوقابل نه شوپاته نوپه كوم بل مصرف كې دي مصرف كړي .

(۲۳۹)يعنى كه بدنه په لاره كې مرګ ته قريبه شي نوكه نفلى وي نوذبح دي كړي اوددي نعل(يعنى دهدى بنګرى يا هغه قلاده كومه چې ددي په غاړه كې اچول شوي ده)دي په وينه ورنګوي اوددي پراړخ دي وينه ووهې داددي لپاره ترڅوچې معلومه شي دابدنه دهدى ده نوله دي څخه دي صرف فقراء وخوري پخپله صاحب دهدى اونوراغنياء دي له دي څخه خورک نه كوي ولى چې له هدى څخه دخورک جوازمعلق له دي شرط سره چې هدى خپل محل يعنى حرم ته ورسيږي نومناسب خوداوه چې حرم ته له رسيدلوڅخه وړاندي بالكل ددي خورک جائزنه واى ليكن څرنګه چې په تصدق على الفقراء كې يوقسم تقرب دى اوتقرب مقصوددى لهذادفقراؤخوړل جائزدى .

ف:امام شافعى رحمه الله فرمايي چې له داسې هدى څخه دصاحب هدى دفقيروملګروخورک هم ناجائزدى ولى چې نبى كريم ﷺ ناجيه اسلمى ﷺ ته فرمايلي وو «لاتاكل انت ورفقتک منهاشيئا» (ته اوستاملګري له دي

څخه هيڅ مه خورئ)، امام شافعي رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې حديث محمول دی پردې چې دناجيه رضي الله عنه رفقاء اغنياء وو.

(۲۴۰)يعني صرف دم تطوع ،دم تمتع ،دم قران اودم نذرته قلاده وراچول مستحب دی ولې چې دادم قربت دي نودې شهرت کول مناسب دی .له دی څخه علاوه دکفاراتو او احصاروغيره دم ته دي قلاده نه وراچوي ځکه چې په دې کې تستربهتردی ولې چې ددې سبب جنايت دی لهذاپه دي کې عدم تشهيرمناسب دی.

ف:مصنف رحمه الله په لفظ بدنه سره دې ته اشاره وکړه چې قلاده اوبنې اوغواته اچول مستحب ده پسه ته قلاده وراچول مستحب نه ده ولې چې پسه ته دقلادې وراچولو عادت نشته .دامام شافعي رحمه الله په نزدپسه ته هم قلاده وراچول مستحب ده لماروی عن عائشة رضي الله عنها قالت اهدی رسول الله صلى الله عليه وسلم مرة الى البيت غنمافقلدها(يعني نبی کريم صلى الله عليه وسلم يوځل بيت الله ته پسونه روان کړل نوددوئ په غاړوکې يې قلادې (غاړګی) واچولې)،امام شافعي رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې له دې يوځل څخه وروسته نبی کريم صلى الله عليه وسلم اوصحابه کرامو رضي الله عنهم پسونوته قلاده وراچول ترک کړي وو نوکه مستحب وای نودوئ به نه پرېښودی.

مَسَائِلُ مَنثُورَةٌ

دمتفرقو مسائلوبيان

دمصنفينوعادت دی چې دوئ دکتاب په اخرکې له سابقه بابونوسره څه داسې نادري مسائل ذکرکوي کومې چې له کوم خاص باب سره مناسبت نه لري نو مصنف رحمه الله هم دکتاب الحج په اخرکې څه داسې مسائل ذکرکړي دي. بياداسې مسائلوته کله دمسائلومنثوره عنوان ورکوي اوکله دمسائل متفرقه اوکله دمسائل شتی عنوان ورکوي مصنف رحمه الله په خپل کتاب کې دادرې سره قسمه عنوانات استعمال کړي دي

(۲۴۱)وَلَوْ شَهِدُوا بِوُقُوفِهِمْ قَبْلَ يَوْمِهِ تُقْبَلُ وَبَعْدَهُ لَا (۲۴۲)وَلَوْ تَرَكَ الْجَمْرَةَ الْأُولَى فِي الْيَوْمِ الثَّانِي رَمَى الْكُلَّ أَوْ الْأُولَى فَقَطْ (۲۴۳)وَمَنْ أَوْجَبَ حَجًّا مَاشِيًا لَا يَرْكَبُ حَتَّى يَطُوفَ لِلرُّكْنِ (۲۴۴)وَلَوْ اشْتَرَى مُحْرِمَةً حَلَّلَهَا وَجَامَعَهَا

ترجمه:اوکه خلکوګواهي ورکړه چې دوئ وقوف عرفات کړی دی دعرفات له ورځې څخه وړاندې نوداګواهي به قبليږي اودعرفات له ورځې څخه دوروسته ګواهي به نه قبليږي ،اوکه يې دجمره اولی رمی پرېښوده په يولسم تاريخ نوپوره رمی دي وکړي ياصرف اولنۍ ،اوچاچې واجب کړپرخپل ځان پياده حج نوندې سوريږي ترڅو چې طواف رکن وکړي ،اوکه چااخيسته محرمه مينځه نوهغه دي حلاله کړي اوله هغې سره دې جماع وکړي.

تشريح:(۲۴۱)که خلکودعرفات له ورځې څخه وړاندې ګواهي ورکړه چې حاجيانووقوف عرفات له نهم ذی الحجه څخه وړاندې کړی دی نوددوئ ګواهي به قبلول کيږي ولې چې تدارک ممکن دی په دې ډول چې خلک به دوهم ځل وقوف عرفات وکړي اوکه يې له نهم ذی الحجه څخه وروسته ګواهي ورکړه مثلاداسې

ووايې چې خلګوپه لسم ذی الحجه وقوف عرفات کړی دی نوداګواهی به نه منل کيږي دقياس تقاضاخوداده چې دخلګوصحيح نه وي ولی چې وقوف عرفه عبادت دی کوم چې له زمان اومکان سره خاص دی لهذاله دي زمانې اومکان څخه بغيرصحيح نه دی .وجه داستحسان داده چې ده په نفی حج باندي ګواهی ده اوله خطاء څخه احترازناممکن دی اوتدارک متعذردی اوخلګوته اعاده حج په حکم کولوکې ډيرحرج لازميږي اوحرج شرعاًمدفوع دی نوواجب ده چې داشتباه پروخت دهغه دکافی والی حکم وکړل شي .

(۲۴۲)که چادیولسم ذی الحجه په ورځ دجمره وسطی اوجمره ثالثه رمی خووکړه مګردجمره اولی رمی یې پرېښوده حال داچې په دي تاريخ ددريوسره جمرورمی کول واجب دي بياداكس په همدي ورځ درمی اعاده کوله نوکه ده دريوواړه جمرودرمی په ترتيب سره اعاده وکړه نوډيره ښه ده ولی چې په دي ډول به دسنت ترتيب هم قائم شي ،اوکه ده صرف دجمره اولی رمی وکړه اودباقی دوجمرورمی يې پرېښوده نوداهم جائزده ولی چې ده خواصل رمی په خپل وخت کې وکړه زيات ترزيات داوشول چې ده مسنون ترتيب پرېښودی په کوم چې څه تاوان نه لازميږي .ديولسم ذی الحجه ذکراتفاقی دی ولی چې ددولسم تاريخ اوديارلسم تاريخ هم همداحکم دی البته په لسم تاريخ صرف دجمره عقبه رمی مشروع ده دنورو دوورمی مشروع نه ده .

ف :دامام شافعی رحمه الله په نزدځکه چې په رمی جمرات کې ترتيب لازمي دی لهذاپه مذکوره بالاصورت کې ددريوواړو اعاده په ترتيب سره لازمي ده ولی چې نبی کريم ﷺ رمی په ترتيب سره کړي وه لهذاغيرمرتب رمی مشروع نه ده ،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې دهري جمري رمی قربت مقصوده دی له بلې سره ددي هيڅ تعلق نشته لهذاديوې عدم اداء دبلې پراداء باندي اثرنه کوي .

(۲۴۳)که چاپياده حج کول پرځان نذرکړنوپرده واجب ده چې له طواف زيارت څخه وړاندي په سواري باندي سپورنه شي ولی چاچې کوم کارپرخپل ځان باندي علی وجه الکمال لازم کړنوهغه په ناقص طورسره په اداء کولونه اداء کيږي اوحج ته پياده تلل صفت کمال دی لهذاپه همدي صفت سره حج اداء کول واجب دی ياځکه چې دحج افعال په طواف زيارت سره پوره کيږي لهذاپرده ترطواف زيارت پوري پياده تلل واجب دي .

ف :مصنف رحمه الله داييان ونه کوچې په مذکوره بالاصورت کې ناذرپياده تګ له کومه ځايه شروع کړي ،نوپه دي باره کې دعلماؤدري قوله دي يوقول دادی چې له ميقات څخه دي پياده روان شي ،دوهم قول دادی چې له کومه ځايه چې احرام تړلی دی ،دريم قول دادی چې له خپل کورڅخه پياده ولاړشي همدا صحيح ده ولی چې په عرف کې له پياده حج کولوڅخه همدامراددی چې له کورڅخه پياده ولاړشي قال الشيخ عبدالحكيم الشهيد: واعلم ان ابتداء المشي لم يذكر محمد في الاصل فلذا اختلف المشائخ فيه على ثلاثة اقوال قيل من بيته وهو الصحيح وهو الاصح كما في الفتح ورد المختار وغيرهما وقيل من الميقات وقيل من اى موضع احرم منه الراجح والمعول عليه وهو الصحيح الاول (هامش هداية: ۱/۲۸۳)

ف :له امام ابوحنيفه رحمه الله مروی ده چې پياده حج کول مکروه دی ،ددي وجه داليکل شوي ده چې په پياده حج کولوکې مشقت زيات دی دکوم په وجه سره چې په لاره کې له ملګروسره دبداخلاقی اوجنګ اوجنجال

خوف دی ،نو که داوجه نه وي نوبياپياده حج كول افضل دي ولى چې مروى ده چې نبى كريم ﷺ وفرمايل چې پياده حج كونكي ته په هرقدم د حرم له نيكيانو څخه يوه نيكي حاصليږي پوښتنه وشوه د حرم نيكي څه ده ؟ويې فرمايل يوه نيكي له اووسوه سره برابره ده .(كذافى الشامية :۲/۱۵۵)

(۲۴۴)كه چاداسې مينځه واخيسته كومه چې په حالت احرام كې ده يعنى دنفلى حج په احرام كې ،نوكه له هغې سره جماع كول وغوښتل نواول دي هغه حلاله كړي يعنى ويښتان دي وريږي كړي له دي وروسته دي جماع وكړي ولى چې مشترى دبائع قائم مقام دى اوبائع لره دااختيارو و چې محرمه مينځه حلاله كړي اوجماع وكړي نوپه همدي شان به مشترى ته هم دااختياروي .

كِتَابُ النِّكَاحِ

داكتاب دنكاح داحكامو په بيان كې دى

نكاح په لغت كې وطى ته ويل كيږي اوعقدنكاح ته مجازاًنكاح ويل كيږي ولى چې عقدنكاح دوطى سبب دى .ځينې حضرات وايې چې نكاح په وطى اوتزوج كې مشترک ده .اصطلاحي تعريف يې مصنف رحمه الله داسې كړى دى هوعقديردعلى ملک المتعة قصدايعنى نكاح هغه عقددى كوم چې واردېږي په ملک متعه باندي قصدا،له ملک متعه څخه مرادله ښځې سره دوطى كولوملكيت دى ،يردعلى ملک المتعة ،په معنى ديفيدملک المتعة ،يايثبت به ملک المتعة، نوخلاصه دا شوه چې نكاح دهغه عقدمخصوص نوم دى كوم چې قصداًملک متعه لره مفيدوي ،دقصداًپه قيدسره احترازدى له هغه ملک متعه څخه كوم چې ضمنى حاصل وي مثلاچامينځه واخيستله نوده لره ملک متعه حاصل دى مگرڅرنگه چې دلته مقصوددملک رقبه حصول دى ضمناملک متعه هم حاصل شولهذدي ته نكاح نه ويل كيږي ولى چې داملک متعه ضمناًحاصل شوى دى .

احكام نكاح يې له احكام عبادت څخه ځكه مؤخركړل چې دنكاح نسبت له عباداتوسره نسبة المركب من البسيط دى ولى چې په عبادت كې محض دعبادت اړخ دى حال داچې په نكاح كې دوه اړخه دي من وجه عبادت دى اومن وجه معامله ده اومركب له بسيط څخه مؤخروي .په دي وجه يې احكام نكاح له احكام عبادت څخه موخرذكركړل .نكاح من وجه عبادت ځكه ده چې په نكاح سره مشغوليدل ترمحض عبادت ته ځان فارغولوافضل دى ولى چې دنكاح په سبب انسان له زناڅخه ساتل كيږي. اونكاح من وجه معامله ځكه ده چې له يوه طرف څخه كه څه هم بضعه ده كوم چې مال نه دى مگرله دوهم طرف څخه يعنى دبضعې عوض مال دى .اوپه دي كې ايجاب اوقبول اوگواهي لازمي ده .

(۱)هوعقديردعلى تملک المتعة قصدا(۲)وهوسنة وعندالتوقان واجب

ترجمه:نكاح هغه عقددى كوم چې واردېږي په ملک متعه باندي قصدا ،اوهغه سنت دى اودغلبه شهوت سره واجب دى:

تشريح :(۱)مصنف رحمه الله په خپل دي عبارت كې دنكاح اصطلاحي تعريف كړى دى كوم چې موږلوړ په تفصيل سره بيان كړ.(۲)نكاح داعتدال په صورت كې(حال داچې په مهر،نفقه اووطى باندي قدرت لري)سنت مؤكده دى. او عندالتوقان (يعنى دغلبه شهوت په وخت كې)واجب ده اوكه دزنايقين وي يعنى بغيرد نكاح له زنا څخه خلاصيدل ممكن نه وونوفرض ده .دځينوحضراتوپه نزدفرض كفايه ده .البته كه په نكاح كولوكې دظلم اوجورخوف وونومكروه ده ولى چې نكاح دډيرومصالحولپاره مشروع شوي ده نوكه دظلم اوجورخوف وي نوهغه مصالح نه ښكاره كيږي .

ف:په هرحال نكاح كه فرض وي ،كه فرض كفايه وي ،كه واجب وي ،اوياسنت په نفلى عبادت سره ترمشغولتياافضل ده ولى چې په غالبه احوالوكې سنت مؤكده ده اوسنت مؤكده له نوافلوڅخه اولى دي ،همدارانګه په ترک نكاح باندي وعيد وارد شوى دى حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې نبى كريم ﷺ وفرمايل﴿ النكاح من سنتي فمن لم يعمل بسنتي فليس مني ﴾ (نكاح زماسنت دى څوک چې زماپه سنت باندي عمل ونه كړي هغه له ماڅخه نه دى)حال داچې دنوافلوپرترک باندي كوم وعيدنه ده راغلى .دامام شافعى رحمه الله په نزدنفل عبادت له نكاح څخه افضل دى ولى چې نكاح له معاملاتوڅخه ده حتى چې دكافر نكاح هم صحيح ده حال داچې نوافل عبادت دى په دي وجه سره نوافل اداء كول له نكاح كولوڅخه اولى دي .

الحكمة :اعلم ان الله سبحانه وتعالى قدخلق الانسان ليعمر هذه الارض التي خلق كل مافيهاله بدليل قوله تعالى (خلق لكم مافي الارض جميعا)اذاعرفت هذاعرفت ان بقاء الارض عامرة يستلزم وجودالانسان حتى تنتهي مدة الدنياوهذايستلزم التناسل وحفظ النوع الانساني حتى لايكون خلق الارض ومافيهاعبثافتنج من هذاان عمار الكون متوقف على وجودالانسان ووجوده متوقف على وجودالنكاح(حكمة التشريع)

(۳)وَيَنْعَقِدُ بِإِيجَابٍ وَقَبُولٍ وُضِعَا لِلْمَاضِي أَوْ أَحَدُهُمَا (۴)وَإِنَّمَا يَصِحُّ بِلَفْظِ النِّكَاحِ وَالتَّزْوِيجِ مَاوُضِعَ لِتَمْلِيكِ الْعَيْنِ فِي الْحَالِ

ترجمه :اونكاح منعقده كيږي په ايجاب اوقبول سره كله چې دواړه وضع وي دتيري شوي زمانې دپاره ياله دواړوڅخه يو، اونكاح صحيح كيږي په لفظ نكاح اوتزويج سره اوپه هغه الفاظوسره كوم چې فى الحال دتمليک عين لپاره موضوع وى .

تشريح :(۳)نكاح په ايجاب اوقبول سره منعقده كيږي ولى چې نكاح دنوروعقودوپه شان يوعقددى نوڅرنګه چې دنوروعقودولپاره ايجاب اوقبول لازم دى همداشان دنكاح لپاره هم لازم دي .ايجاب هغه لفظ ته ويل كيږي كوم چې له احدالمتعاقدين څخه اولاصادريږي په دي وجه چې هغه په مخاطب باندي په نفى يااثبات كې ځواب واجبوي ياپه دي وجه چې هغه وجودعقدثابتوي كله چې له ده سره قبول متصل شي .اوكوم لفظ چې له احد المتعاقدين څخه ثانياصادرشي هغه ته قبول ويل كيږي.

په دي شرط چې ايجاب اوقبول دماضى په دولفظونوسره وي مثلازوج ووايي زوجتک اووجه په ځواب كې ووايي قبلت ياپه داسې دوولفظونوسره نكاح وكول شي په كوموكې چې يولفظ دماضى اودوهم دمستقبل لپاره وضع شوى وي مثلازوج ووايي زوجنى ابنتک(له خپلې لورسره زمانكاح وكړه) اومخاطب ووايي زوجتک(ماستانكاح وكړه).اصلاپه دي كې دزوج قول زوجنى ايجاب نه دى بلكه ده مخاطب وكيل

جوړکړاوکله چې مخاطب زوجتک وويل نودااېجاب اوقبول دواړه دي اودنكاح په باب کې يوکس دطرفينومتولې جوړېدای شي يعني يوکس دمتعاقدينوله طرف څخه وکيل کيدای شي.

سوال:سوال دادی چې نکاح خودانشاء له قبيلې څخه ده نودادماضي په صيغه سره څرنګه تعبيرکيدای شي؟

جواب:په لغت کې داسې لفظ موجودنه دی کوم چې صراحة په انشاء يعني حدوث امرفي الحال باندي دلالت وکړي ولی چې ماضی خوپه تيره شوي زمانه دلالت کوي اومضارع لکه څرنګه چې په حال دلالت کوي همداشان په استقبال هم دلالت کوي لهذاپه حال باندي ددي دلالت صريح نه دی نوصيغه ماضی که څه هم داخبارلپاره وضع کړل شوي ده مګردضرورت نکاح دپوره کولولپاره شرعاًدانشاء معنی ته نقل کړل شوي ده.

دخط اوټليفون په ذريعه سره دنكاح حكم

ف:دتحريرپه ذريعه سره هم نکاح کيدای شي مګرداضروري ده چې په طرفينوکې به ديوه له طرف څخه دنکاح دقبوليت په ژبه سره اظهاروي اوصرف له يوه طرف څخه به تحريروي ،همداراز دقبوليت اظهاربه ددووګواهانوپه مخ کې کيږي اوهغه تحريربه هم دي ګواهانوته وراورول کيږي (جديدفقهی مسائل :۲۸۰/۱)

ف:دټيليفون سيټان په څوقسمه دي مثلا(۱)هغه ټيليفون سيټ په کوم سره چې صرف ديوه کس اوازاوريدل کيدای سي. (۲)هغه ټيليفون سيټ دکوم په ذريعه سره چې خبري کونکې ديوبل تصويرهم ليدی شي .(۳)هغه ټيليفون سيټ دکوم په ذريعه سره چې دخبري کونکواوازحاضرين مجلس هم اوريدی شي .په اول الذکرکي نکاح نه منعقده کيږي اوپه اخيرينوکي څرنګه چې دشهادت ټولې تقاضې پوره کيدای شي لهذانکاح صحيح ده لمافي الهندية :ومنهاسماع الشاهدين كلا همامعاهكذافي فتح القدير فلاينعقدبشهادة نائمين اذالم يسمعاكلام العاقدين الخ(ماخوذازحقانية :۳۱۲/۴.كذافي خيرالفتاوی :۳۷۰/۴)

(۴)نکاح دنکاح په لفظ سره منعقده کيږي مثلايوووايې انکحتني ،بل ووايې انکحتک ، همداشان په لفظ تزويج سره منعقده کيږي مثلايوکس ووايې تزوجتني ،دوهم کس ووايې تزوجتک .بلکه په هغوټول الفاظو سره منعقده کيږي کوم الفاظ چې دفي الحال تمليک عين لپاره وضع وي مثلالفظ تمليک ، صدقه ،بيع اوشراء وغيره .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزدصرف دنکاح اوتزويج په لفظونوسره نکاح منعقده کيږي ولی چې نکاح دتمليک وغيره الفاظونه حقيقي معنی ده اونه مجازي معنی ده ،زموږپه نزدپه تمليک وغيره الفاظوسره هم نکاح منعقده کيږي ولی چې داالفاظ دنکاح په معنی کې دسببيت دعلاقې په وجه سره مجازامستعمل دي ولی چې لفظ تمليک ،بيع وشراء اوصدقه دملک رقبه په واسطه سره دمتعه په محل کې دملک متعه لپاره

سبب دي مثلاً کوم کس په مذکوره الفاظو سره دمينځې درقبې مالک کرځي نو درقبې په ضمن کې دمتعې هم مالک جوړيږي .

(۵) عِندَ حُرَّيْنِ او حُرٍّ وَحُرَّتَيْنِ عَاقِلَيْنِ بَالِغَيْنِ مُسْلِمَيْنِ (۶) وَلَوْ فَاسِقَيْنِ او مَحْدُودَيْنِ او أَعْمَيَيْنِ او ابْنَيِ الْعَاقِدَيْنِ (۷) وَصَحَّ تَزَوِيجُ مُسْلِمٍ ذِمِّيَّةً عِنْدَ ذِمِّيَّيْنِ (۸) وَمَنْ أَمَرَ رَجُلاً أَنْ يُزَوِّجَ صَغِيرَتَهُ فَزَوَّجَهَا عِنْدَ رَجُلٍ وَالْأَبُ حَاضِرٌ صَحَّ وَإِلاَّ لاَ

ترجمه: ددوو داسې ازادو نارينه وپه موجودوالي کې يا ديوه ازادنارينه او دوو ازادو ښځو په موجودوالي کې کوم دواړه چې عاقل ،بالغ او مسلمان وي ،که څه هم دواړه فاسق يا محدود يا ړانده يا دعاقدينو زامن وي ،او صحيح ده نکاح کول دمسلمان له ذميه ښځې سره ددوو ذميانو په موجودوالي کې ،او چا چې امر وکړ بل ته چې وکړي دده دکوچنۍ لور نو هغه نکاح وکړه ددې ديوه نارينه په موجودوالي کې او پلار يې هم حاضر وو نو نکاح صحيح ده که نه نو نه ده صحيح .

تشريح:(۵)قوله عندحرين اى ينعقدالنكاح بحضرة رجلين حرين ،يعني ددومسلمانانو نکاح منعقده کيږي ددوو ګواهانو په موجودګۍ کې﴿لقوله ﷺ لانكاح الابشهود﴾(له ګواهانو څخه بغير نکاح نشته).او ګواه به هم داسې وي چې دوه ازادنارينه يا يو ازادنر او دوه ازادي ښځې به وي ،او دواړه به بالغ ،عاقل او مسلمان وي.دګواهانو ازادوالي ځکه شرط دی چې شهادت له باب ولايت څخه دی (ولايت وايي تنفيذالقول على الغيرشاء الغيراوابى ،يعنی خپل قول په غير باندي نافذول خواه که دهغه خوښه وي او که يې خوښه نه وي ،ته)او غلام ته په خپل ذات باندي دولايت حق حاصل نه دی نو په غير به څرنګه ده لره ولايت حاصل شي. او دګواهانو عاقل والی او بالغ والی ځکه شرط دی چې له عقل او بلوغ څخه بغير هم چالره دولايت حق نه شي حاصليدای لهذا کوم چې عاقل يا بالغ نه وي هغه ده شهادت اهل نه دی .او مسلمان والی په دې وجه شرط دی چې دکوم مسلمان په خلاف دکافر ګواهي معتبره نه ده .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد نکاح صرف ددوو ازادو نارينه وپه ګواهي سره منعقده کيږي ديوه ازادنارينه او دوو ازادو ښځو په ګواهي سره نکاح نه منعقده کيږي ولی چې دښځو ګواهي دده په نزد صرف په اموالو او توابع اموالو کې معتبره ده .

ف:ددواړو ګواهانو معاً دمتعاقدينو کلام اوريدل او ورباندي پوهيدل ضروري ده كمافي شرح التنوير:(حرين او حروحرتين (مكلفين سامعين قولهمامعا) على الاصح (فاهمين) انه النكاح على المذهب.(ردالمحتار:۲/۲۶۹)

(۶)قوله ولوفاسقين اومحدودين اى لايشترط فى الشاهدين وصف العدالة حتى ينعقدبحضرة فاسقين ،يعني ګواهانو عدالت شرط نه دی بلکه که دواړه ګواهان فاسق وي نو هم نکاح منعقده کيږي ولی چې فاسق لره په خپل ذات باندي ولايت حاصل دی دمومن والی په وجه سره نو دبل مسلمان په حق کې هم له اهل ولايت څخه دی ولی چې هغه هم دايمان په واسطه سره دده هم جنس دی .همداشان محدود فی القذف (کوم کس چې په کومه پاک لمنې ښځې يا نارينه باندي دزنا تهمت ولګوي بيا دګواه دنه پيښ کولو په وجه سره دی اتيا دورې ووهل شي هغه ته محدود فی القذف ويل کيږي)هم ګواه جوړيدای شي. همدشان دوه ړانده او دهمدې متعاقدينو زامن هم ګواه جوړيدی شي ولی چې داټول له اهل ولايت څخه دي او څوک چې اهل ولايت وي هغه داهل شهادت هم دی .

ف:البته مذکوره بالامحدود فی القذف وغیره تحمل شهادت خو کولی شي یعنی گواه جوړیدلی شي لیکن که په کومه وجه سره په عدالت کې دگواهی ورکولو ضرورت پیش شو نو گواهی نشي ورکولی کما فی الشامیة :اعلم ان النکاح له حکمان حکم الانعقاد وحکم الاظهار فالاول ماذکره والثانی انما یکون عند التجاحد فلایقبل فی الاظهار الاشهادة من تقبل شهادته فی سائر الاحکام کما فی شرح الطحاوی فلذا انعقد بحضور الفاسقین والاعمیین والمحدودین فی قذف وان لم یتوبا وابنی العاقدین وان لم یقبل اداؤهم عند القاضی کانعقاده بحضرة العدوین (ردالمحتار: ۲/۲۹۶)

(۷) دمسلمان نارینه له ذمی ښځې سره ددوو ذمیانو په موجودوالی کې نکاح کول دشیخینو په نزد صحیح ده یعنی نکاح منعقده کیږي ولی چې نکاح کې دوه شیان دي یو دزوج لپاره دملک بضع ثبوت دی اوبل دزوجه لپاره پرزوج دمهر وجوب دی .ښکاره ده چې گواه پرداسې شي باندي وي کوم چې قابل احترام وي اوپه باب دنکاح کې قابل احترام بضع ده لزوم مال یعنی مهر قابل احترام نه دی ،نو په باب النکاح کې گواه هم دخاوند لپاره دملک بضع په ثبوت باندي وي نه چې دښځې لپاره دمهر په ثابتولو ، نو ثابته شوه چې دذمیانو گواهی دمسلمان زوج په حق کې ده او دذمیه ښځې په خلاف ده او دمسلمان په حق کې دکافر گواهی مقبوله ده که څه هم دمسلمان په خلاف مقبوله نه ده ،نو که مسلمان نارینه په کومه وجه سره له نکاح څخه انکار وکړ نو دذمیانو په گواهی سره نکاح نه شي ثابتیدلی ولی چې دذمی گواهی دمسلمان پرخلاف معتبره ده.

ف:دامام زفر او امام محمد رحمهما الله تعالی په نزد دذمیانو په گواهی سره دمسلمان نکاح نه منعقده کیږي ولی چې ذمي گواهان دزوجینو په حق کې گواه دي او قاعده داده چې کافر دمسلمان په خلاف گواه نشي جوړیدلی ،دشیخینو قول راجح دی کما فی شرح التنویر: (کما صح نکاح مسلم ذمیة عند ذمیین) (ردالمحتار: ۲/۲۹۷)

(۸) که کوم کس دخپلې کوچنۍ لور دنکاح کولو لپاره کوم نارینه وکیل جوړ کړ او ورته ویې ویل چې زما ددي صغیري لور نکاح له یو چاسره وکړه اوس دي وکیل ددي صغیري نکاح وکړه دیوه گواه په موجودوالی کې نو که دصغیري پلار هم موجود وو نو نکاح صحیح ده ولی چې دوه گواهان موجود دي ځکه چې پلار دنکاح مباشر گڼل کیږي او وکیل دوهم گواه ولی چې په باب دنکاح کې حقوق نکاح دموکل طرف ته راجع کیږي وکیل خو سفیر محض وي لهذا دوهم گواه موجود شو په دي وجه نکاح صحیح ده ،او که دصغیري پلار موجود نه وو نو نکاح نه صحیح کیږي ولی چې اوس دنکاح مباشر وکیل دی دگواهی لپاره صرف یو گواه پاته شو او دیوه په گواهی سره نکاح نه منعقده کیږي .

فَصْلٌ فِي الْمُحَرَّمَاتِ

دا فصل دمحرماتو په بیان کې دی

دنكاح دجواز لپاره شرط دادى چې ښځه به محرمه نه وي .ددې شرط تفصيل دشعبو او انواع حرمت دكثرت په وجه سره په مستقل فصل کې بيان کړى دى .

ف:دكومې ښځې دچالپاره دمحرمه كيدلولپاره علماؤلس اسباب بيان كړي دي (۱)حرمت بسبب نسب لكه مور.خور وغيره،(۲)حرمت بسبب مصاهرت لكه دزوجې موروغيره (۳)حرمت بسبب رضاع لكه رضاعى خور.موروغيره (۴)حرمت بسبب جمع بين الاختين (۵)حرمت بسبب تعلق حق الغيرلكه ديوچامنكوحه اومعتده (۶)حرمت بسبب ادخال الامة على الحرة يعني په نكاح كې دازادې ښځې له موجودوالى سره سره مينځه په نكاح كول (۷)په دريوطلاقونوسره مطلقه كيدل (۸)په دين سماوى كې دعدم موافقت په وجه سره حرمت لكه مجوسيه ښځه (۹)دمنافى نكاح دموجودوالى په سبب سره حرمت لكه خپله مينځه (۱۰)له وړاندې څخه دڅلوروښځوپه نكاح كې دموجودوالى په وجه سره حرمت .

(۹)حرم تزوج أمه وبنته وإن بعدتا (۱۰)وأخته وبنتها وبنت أخيه (۱۱)وعمته وخالته (۱۲)وأم امرأته وبنتها إن دخل بها (۱۳)وامرأة أبيه وابنه وإن بعدا

ترجمه :حرام ده نكاح كول له خپلې مورسره اوله خپلې لورسره كه څه هم ليرې وي ،اوله خپلې خورسره اوله خپلې خورځې سره اوله خپلې وريرې سره ،اوله خپلې عمې سره اوله خپلې خاله سره ،اوله خپلې خواښې سره اودخپلې ښځې له لورسره كه يې له ښځې سره وطى كړې وي ،اودخپل پلاړله ښځې سره اودخپل زوى له ښځې سره كه څه هم ليرې وي .

تشريح :له دې ځايه مصنف رحمه الله دمحرماتوبيان كوى .محرمات ټول څوارلس دى اوه نسبي دي اواوه سببي دي مصنف رحمه الله ټولې بيان كړي دي .(۹)دانسان له خپلې مورسره نكاح كول جائزنه ده همداشان له انااودانا له مورسره، دمور دموراودمورله اناسره وان علون نكاح كول جائزنه ده .همداشان پرنارينه باندي خپله لور،دلورلوراودخپل زوى لوروان سفلن حرام دي لقوله تعالى﴿ حرمت عليكم أمهاتكم وبناتكم الاية﴾(يعنى حرام كړل شوي دي په تاسې ستاسې موراني اوستاسې لوراني)،ځرنگه چې په لغت كې ام اصل اوبنت فرع ته ويل كيږي نوله همدې ايت څخه دجداتواوبنات الابن اوبنات البنت ټولوحرمت ثابتيږي .دمصنف رحمه الله په قول وان بعدتاسره هم جدات اوبنات الاولادطرف ته اشاره ده .

(۱۰)قوله واخته اى حرم تزوج اخته .يعنى همداشان په نارينه باندي له خپلې خور(خواه كه سكه خوروى ياصرف په پلار ورسره شريكه وي اوياصرف په موروسره شريكه وي)اودخپل خورله لورانو (خورځې گانې)اودخپل ورورله لورانو(وريرې گانې)سره نكاح كول حرام ده لقوله تعالى﴿ واخواتكم.....وبنات الاخ وبنات الاخت﴾(يعنى حرام كړل شوي دي په تاسې ستاسې خوندي .....اوخورځې گانې اووريرې گانې).

(۱۱)قوله وعمته وخالته اى وحرم تزوج عمته وخالته .يعنى په نارينه باندي له خپلې عمه اوخاله (لاب وام اولاحدهما) سره نكاح كول حرام ده لقوله تعالى﴿ وعمتكم وخالاتكم ﴾(يعنى حرام كړل شوى دي په تاسې باندي ستاسې عمې اوخالې گانې)، مذكوره بالاهغه محرماتې دي دكوموچې حرمت نسبي دى .

(۱۲)قوله وام امراته وبنتها اى وحرم تزوج ام امراته وبنتها .يعنى په نارينه باندي دخپلې ښځې له مورسره نكاح كول حرام ده برابره خبره ده چې له ښځې سره يې وطى كړي وي يايې صرف عقدورسره كړى وي وطې يې نه

وي ورسره كړي لقوله تعالى﴿ وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ﴾(يعنى حرام كړل شوي دي په تاسې باندي ستاسې دښځو مندي).همداشان په نارينه باندي دخپلې ښځې له لورسره نكاح كول حرامه ده په دي شرط چې له ښځې سره به يې صحبت كړى وي په صرف عقدسره دښځې له لورسره نكاح نه حراميږي لقوله تعالى ﴿وربائبكم اللاتى فى حجوركم من نسائكم اللتى دخلتم بهن فإن لم تكونوا دخلتم بهن فلا جناح عليكم ﴾(يعنى حرام كړل شوي دي په تاسې باندي ستاسې ربيبه نجونې كومې چې ستاسې په پالنه كې وي ستاسې له داسې ښځوڅخه له كوموسره چې تاسې صحبت كړى وي اوكه تاسې له دي ښځوسره صحبت نه وو كړى نوپه تاسې څه ګناه نشته).نودايت شريف په اخري حصه كې ددي خبري بيان دى چې كه تاسې دربيبې له مورسره صحبت نه وي كړى صرف عقدنكاح موكړى وي نوله ربيبه سره په نكاح كولوكې په تاسې څه ګناه نشته .

ف:په دي ايت مباركه كې فى حجوركم دشرط په طورسره نه دى بلكه په غيرِه كې دپالل كيدلوقيد دعادت په دول سره بيان شوى دى چې عادت دادى چې ربيبه دخپلې مورله دوهم خاوندسره پالل كيږي.

(۱۳)قوله وامراة ابيه اى وحرم تزوج امراة ابيه ،يعنى پرنارينه باندي دخپل پلاراونيكه له ښځې سره نكاح كول حرامه ده خواه كه پلاراونيكه دخول كړى وي اوكه يې نه وي كړى لقوله تعالى ﴿لَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ﴾(يعنى نكاح مه كوئ له هغوښځوسره له كوموسره چې ستاسې اباؤنكاح كړي وي) داباؤلفظ اجدادوته هم شامل دى لهذ ادنيكه اوغورنيكه له ښځې سره هم نكاح كول حرامه ده. همدارازپه ايت شريف كې ددخول قيدنشته لهذاپه محض عقدكولوسره هم دپلاراونيكه ښځې حراميږي .همدا راز دخپل زوى اولمسى له ښځوسره نكاح حرامه ده لقوله تعالى ﴿ وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ ﴾ (يعنى په تاسې حرام كړل شوي دي ستاسې درامنوښځې كوم چې ستاسې له پښت څخه دي)په ايت شريف كې لفظ دابناكم لمسيانواوكړوسيانوته هم شامل دى لهذاددوئ له ښځوسره هم نكاح كول حرامه ده دمصنف رحمه الله په قول وان بعدتاسره د نيكه ،غورنيكه اودلمسي اوكړوسي ښځوته اشاره ده چې له دوئ سره هم نكاح كول حرامه ده.

ف:په دئ ايت مبارك كې داصلاب قيددمتبنى داعتباردساقطولولپاره دى چې دمتنبى له ښځې سره نكاح كول جائزده دانه ده مرادچې درضاعى زوى له ښځې سره نكاح جاكول جائزده كمافى الشامية:وذكرالاصلاب لاسقاط حليلة الابن المتبنى لالاحلال حليلة الابن رضاعافانهاتحرم كالنسب.(ردالمحتار:۲/۳۰۲)

الغاز:اى رجل له امرتان ارضعت احداهماصبيا حرمت الاخرى عليه وحدها؟

قل:رجل زوج ابنه الصغير امة فاعتقت فاختارت نفسها فتزوجت بآخروله زوجة فارضعت الصبى الذى كان زوج ضرتها بلبن هذاالرجل حرمت ضرتهاعلى زوجهالانه صارابنه من الرضاع ابنه من الرضاع فصارمتزوجاحليلة ابنه فلايجوز.(الاشباه والنظائر)

(۱۴)وَالْكُلَّ رَضَاعًا(۱۵)وَالْجَمْعَ بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ نِكَاحًا وَوَطْأً بِمِلْكِ الْيَمِينِ(۱۶)فَلَوْ تَزَوَّجَ أُخْتَ أَمَتِهِ الْمَوْطُوءَةِ لَمْ يَطَأْ وَاحِدَةً مِنْهُمَا حَتَّى يَبِيعَهَا

ترجمه:اوحرامې دي داټولې رشتې دشيدوپه رشته سره هم ،اوددووخوندوجمع كول په نكاح كې يا په وطى كې دملك يمين په جهت سره ،نوكه يې نكاح وكړه دخپلې موطؤه مينځې له خورسره نووطى دي نه كوي له يوي سره لاهم ترڅوچې خرڅه كړي مينځه .

تشریح:(۱۴)قوله والکل رضاعا ای وحرم تزوج جمیع من ذکرت من المحرمات من جهة الرضاع، یعنی له دې ټوله وړاندې چې دخومره رشتو حرمت بسبب نسب یا مصاهرة سره ذکرشو هغه ټولې رشتې د رضاعت په سبب سره حرامې دي لقوله ﴿یَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا یَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ﴾ (یعنی حرامیږي د رضاع په وجه سره کومې چې حرامیږي په نسب سره).

(۱۵)قوله والجمع ای وحرم الجمع بین الاختین ،یعنی په نارینه باندې دا دونسبې یا رضاعې خوندو په نکاح کې جمع کول یا د ملک یمین په جهت سره د وطی لپاره جمع کول حرام دي په دې ډول چې له دوو خوندو سره نکاح وکړي یا له یوې سره نکاح وکړي او دوهمه مینځه وي هغه د وطی لپاره واخلي یا دواړه مینځې وي یو څوک دواړه واخلي لقوله تعالی ﴿وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ﴾ (یعنی په تاسې حرام کړل شوي ده دا چې تاسې جمع کړی دوه خوندي)،د ملک یمین په صورت کې د وطی لپاره قید په دې وجه ولګاوو چې له وطی څخه بغیر په ملک یمین کې جمع بین الاختین حرامه نه ده .

(۱۶)نو که چا د خپلې موطوءه مینځې له خور سره نکاح وکړه نو نکاح خو صحیح ده ولی چې عقد نکاح له اهل نکاح څخه صادر شوا و محل نکاح ته منسوب دی په دې وجه سره نکاح صحیح ده ،لیکن تر څو چې خپله موطوءه مینځه خرڅه نه کړي یعنی له خپل ملک څخه یې ونه باسي په دوئ دواړو کې له یوې سره به هم صحبت نه کوي که نه نو د دو خوندو په وطی کې جمع کول لازمیږي کوم چې حرامه ده که څه هم یوه بطور نکاح ده او بله بطور ملک یمین ده .

ف:مصنف رحمه الله که د حتی یبیعها پر ځای حتی یحرمها علی نفسه ویلی وای نو بهتر به وای ولی چې دا عبارت د مینځې خرڅولو ،هبه کولو او ازادولو وغیره ټولو صورتونو ته شامل دی حال دا چې حتی یبیعها له خرڅولو څخه علاوه نورو صورتونو ته شامل نه دی.

(۱۷)وَلَوْ تَزَوَّجَ أُخْتَيْنِ فِي عَقْدَيْنِ وَلَمْ يَدْرِ الْأُولَى فُرِّقَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمَا وَلَهُمَا نِصْفُ الْمَهْرِ (۱۸)وَبَيْنَ امْرَأَتَيْنِ أَيَّةٌ فُرِضَتْ ذَكَرًا حَرُمَ النِّكَاحُ .

ترجمه :او که یې نکاح وکړه له دوو خوندو سره په دوو عقدو کې او اول نه وو معلوم تفریق به کول کیږي د ده او د دوئ دواړو په منځ کې او د دواړو لپاره نصف مهر دی ،او صحیح نه دی جمع کول د داسې دوو ښځو (په نکاح کې)چې کومه یوه هم مذکر فرض کړل شي نو حرامې وي نکاح .

تشریح :(۱۷)که چا له دوو خوندو سره علیحده علیحده نکاح وکړه او دا نه وو معلوم چې په دوئ کې له کومې سره اول نکاح کړي ده نو قاضی به نارینه له دوئ دواړو څخه علیحده کوي یعنی د دواړو نکاح به ختمه کړي ولی چې په دوئ کې د یوې نکاح یقینانه ده شوي د کومې چې نکاح مؤخره وي مګر د دې مؤخرې د تعین لپاره هیڅ صورت نشته لهذا دواړه به له یوه حکم لاندې داخلیږي یعنی دواړه به له دې نارینه څخه جلا کوي ،بیا به په دوئ دواړو کې هریوې ته نصف مهر ورکوي ولی چې قاعده داده چې کومه ښځه چې له صحبت څخه وړاندې جلا کړی شي هغه د نصف مهر مستحقه ګرځي څرنګه چې دلته د نصف مهر مستحقه کومه یوه متعینه نه ده لهذا له دواړو څخه به هرې یوې ته به نصف مهر ورکول کیږي ، همدا حکم د هر هغو دوو محرمو ښځو دی د کومو چې په یوه وخت په نکاح کې جمع کول جائز نه دی.

ف:مګر دا هغه وخت دی چې په دوئ دواړو کې هریوه دا دعوه وکړي چې زما نکاح وړاندې شوي ده او له دواړو سره ګواه نه وي ،او که هغوئ وایې چې موږ ته معلومه نه ده چې کومه نکاح وړاندې شوي ده

نوددوارولپاره به دهیڅ شي حکم نه کیږي ولی چې مقضی له مجهول دی البته که هغوئ دواړه په نصف مهرمتفق شي نوددواړولپاره به دنصف مهرحکم کیږي .

(۱۸)قوله وبین امرأتین ایة فرضت الخ ای وحرم الجمع بین امرأتین ایة فرضت الخ ،مصنف رحمه الله قاعده کلیه بیان کړي ده چې هرهغه دوه ښځې په نکاح کې جمع کول حرام دي چې په دوئ کې که کومه یوه نارینه فرض کړای شي نودي لره دوهمه حلاله نه وي لکه ښځه له خپلې عمه یاخاله وغیره سره ولی چې که ښځه مذکرفرض کړي نودوهمه ددي عمه ده له کومې سره چې دده نکاح جائزنه ده او که عمه مذکرفرض کړي نودا ښځه ددي وریره کیږي له کومې سره چې هم نکاح ناجائزده. شرط دادی چې له طرفینوڅخه به نکاح جائزنه وي که له یوه جانب څخه جائزه وي نوددا سې دووښځوجمع کول جائزده همداوجه ده چې ښځه اوددي دمخکنې خاوندلورجمع کول جائزده ولی چې که دا ښځه نارینه فرض کړای شي نوپردي ددي دخاوندلورحرامه نه ده ولی چې هغه ددي ښځې په نسبت دپردي کس لورده هوکه دانجلۍ نارینه فرض کړي نوپردي دا ښځه دامرأة الاب کیدلوپه وجه سره حرامه ده .

ف:دامام زفرپه نزدداسې دووښځوجمع کول هم جائزنه دي له کوموڅخه که چیرته یوه نارینه فرض کړای شي نودهغې بلې نکاح ددي لپاره جائزنه وي لیکن دوهمه که مذکرفرض کړای شي نوداولنۍ نکاح ددي لپاره حلاله وي ولی چې من وجه امتناع ثابته ده نواحتیاط په همدي کې دی چې دوئ په نکاح کې جمع کول جائزنه وي .دجمهورودلیل دالله تعالی ارشاد ﴿واحل لکم ماوراءذالکم﴾ دی ،همدارازمروی ده چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه دیوه کس لوراودهغه مخکنۍ ښځه په نکاح کې جمع کړي وي ،فتوی دجمهوروپرقول ده لمافی البحر:وقیدبقوله ایة فرضت لانه جازنکاح احداهماعلی تقدیرمثل المرأة وبنت زوجهااوامرأة ابنهافانه یجوزالجمع بینهماعندالائمة الاربعة وقدجمع عبدالله بن جعفربني زوجةعلي وبنته ولم ینکرعلیه احد(البحرالرائق:۳/۱۷۳)

(۱۹)وَالزِّنَا وَاللَّمْسُ وَالنَّظَرُ بِشَهْوَةٍ يُوجِبُ حُرْمَةَ الْمُصَاهَرَةِ (۲۰)وَحَرُمَ تَزَوُّجُ أُخْتِ مُعْتَدَّتِهِ (۲۱)وَأَمَتِهِ وَسَيِّدَتِهِ (۲۲)وَالْمَجُوسِيَّةِ وَالْوَثَنِيَّةِ (۲۳)وَحَلَّ تَزَوُّجُ الْكِتَابِيَّةِ (۲۴)وَالصَّابِئَةِ (۲۵)وَالْمُحْرِمَةِ وَلَوْ مُحْرِمًا (۲۶)وَالْأَمَةِ وَلَوْ كَانَتْ كِتَابِيَّةً (۲۷)وَالْحُرَّةِ عَلَى الْأَمَةِ لَا عَكْسُهُ (۲۸)وَلَوْ فِي عِدَّةِ الْحُرَّةِ

ترجمه:اوزنا ،مس کول ،اوپه شهوت سره کتل ثابتوي حرمت مصاهرة ،اوحرامه دنکاح کول دخپلې معتدي له خورسره، اوله خپلې مینځې سره اوله خپلې مالکې سره ،اوله مجوسیه سره اوله وثنیه سره ، اوحلاله ده نکاح کول له کتابیه سره ،اوله صابیه سره ،اوله محرمه سره ولوکه نارینه هم محرم وي ،اوله مینځې سره که څه هم کتابیه وي ،اوله ازادي ښځې سره دمینځې پرنکاح باندي نه ددي عکس ،که څه هم ازاده ښځه په عدة کې وي .

تشریح :(۱۹)که کوم کس له کومې ښځې سره زناوکړه یانارینه ښځه په شهوت سره مس کړه یایې په شهوة سره ښځې دشرمګاه طرف ته وکتل نوپه دي دریوواړوصورتونوکې حرمت مصاهرة (دزوم والی دقرابت په وجه سره چې کوم حرمت ثابتیږي هغه ته حرمت مصاهرة ویل کیږي)ثابتیږي لهذاپردي کس ددي ښځې موراولورحرامیږي اوپرښځه دده پلاراووی حرامیږي ولی چې له حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی انه قال اذاجامع الرجل المرأة اوقبلهااولمسهابشهوة اونظرالی فرجهابشهوة حرمت علی ابیه وابنه وحرمت علیه امهاوابنتها(کله چې نارینه له

ښځې سره زنا وكړي يا يې مچ كړي يا يې په شهوة سره مس كړي يا دي دفرج ته په شهوة سره وګوري نو هغه ښځه حراميږي ددي كس پر پلار او دده پرزوى باندي او حراميږي په نارينه باندي ددي ښځې مورا وددي لور).له موراولور،پلار اووى څخه مراد اصول اوفروع دي يعنى پرزانې اومزنيه باندي ديوبل فروع او اصول حراميږي .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد په زنا سره حرمت مصاهرة نه ثابتيږي ولى چې زنا حرامه ده او حرمت مصاهرة يعني دزومولى قرابت يونعمت دى او فعل حرام دنعمت دحصول لپاره سبب نشي كيداى .امام شافعي رحمه الله ته ځواب وركړل شوى دى چې دحرمت مصاهرة اصل سبب ولد دى زنانه ده او په ذات ولد كې كې څه معصيت نشته ،معصيت خود مور او پلار په فعل كې دى لهذا دولد په سبب حرمت كيدلو كې څه قباحت نشته .(كذافى منحة الخالق على هامش البحر الرائق :٣/١٧٤)

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد ښځه په شهوة سره مس كول او په شهوة سره ورته كتل هم دحرمت مصاهرة لپاره سببونه نه دي په دي وجه چې دادوطى په معنى نه دي ولى چې وطى صوم او احرام لره مفسدده او غسل لره موجب ده حال داچې مس اونظرنه مفسد دي اونه موجب غسل دي لهذا مس اونظردحرمت مصاهرة لپاره سبب هم نه دي .امام شافعي رحمه الله ته ځواب وركړل شوى دى چې داحتياط په وجه سره دواعى وطى ته دوطى په قائم مقام ګرځولوسره دوطى حكم وركړل شوى دى لمافي البحر الرائق:واللمس والنظرسبب داع الى الوطء فيقام مقامه في موضع الاحتياط كذافي الهداية(البحر الرائق:٣/١٧٣)

(٢٠)كه چاچيلې ښځې ته بائن طلاق وركونوترڅوچې ددي عدة (عدة دښځې پر طلاق يادخاوند پرمرګ دماتم كولوزمانه ته ويل كيږي)تيره نه شي ددي له خورسره ددي كس نكاح كول جائزنه ده بلكه له هرهغه ښځې سره نكاح كول جائزنه ده كومه چې له مطلقه سره جمع كول ممنوع وي ولى چې تراوسه دنكاح اثر(يعنى عدة)باقي ده كومه چې ددي له خورسره له نكاح كولو څخه مانع ده .

ف:دامام شافعي اوامام مالك رحمهما الله تعالى په نزدچې كومه ښځه دطلاق بائن ياطلقات ثلاثه عدت تيروي ددي له خورسره دمطلق نكاح كول جائز ده ولى چې دطلاق په وجه سره نكاح منقطع شوي ده همداوجه ده چې دحرمت له علم سره له خپلې دي مطلقې سره په وطى كونكې باندي حدواجب دى .داحنافو دليل دادى چې پردي دصحابه كرامو رضي الله عنهم اجماع ده چې له داسې ښځې سره نكاح كول جائزنه ده دكومې چې خوردهمدي كس په طلاق وركولوسره عدة تيري وي ،تركومه چې دشوافعو دليل دى چې نكاح منقطع شوي ده نوددي ځواب دادى چې له وطى څخه ماسوادنوروا حكامو په حق كې نكاح قائمه ده مثلادنفقه ،سكنى ،منع عن الخروج وغيره په حق كې نكاح قائمه ده .

(٢١)قوله وامته وسيدته اى وحرم على السيدلزوج امته وعلى العبدتزوج سيدته ،يعين دمولى له خپلې مينځې سره نكاح كول اودغلام له خپلې مالكې سره نكاح كول جائزنه ده ولى چې دنكاح په وجه سره له متناكحينو څخه هريودڅه حقوقومالك جوړيږي مثلانارينه ته دوطى اودواعى وطى حق حاصليږي نودغلام له خپلې مالكې سره په نكاح كولوغلام مالك جوړيږي حال داچې غلام مملوك دى او په مالكيت او مملوكيت كې

منافات دی ،اوښځې ته دنفقې ،سکنی اومنع عن إلعزل حق حاصليږي نودمولی له خپلې مينځې سره په نکاح کولو کې مملوکه مينځه مالکه جوړيږي حال داچې دمالکيت اومملوکيت په منځ کې منافات دی.

(۲۲)قوله والمجوسية ای وحرم تزوج المجوسية ،يعنی دمسلمان له مجوسيه يعنی له اتش پرستې ښځې سره نکاح کول جائزنه ده ولې چې مجوسيه له اهل کتاب څخه نه ده اونبی کريم ﷺ فرمايلې دي چې ﴿ سُنُّوا بِهِمْ سُنَّةَ أَهْلِ الْكِتَابِ غَيْرَ نَاكِحِي نِسَائِهِمْ وَلَا آكِلِي ذَبَائِحِهِمْ﴾(يعنی له مجوسيانو سره داهل کتاب په شان چلند کوئ ماسوا ددوئ له ښځوسره له نکاح کولو او ددوئ دذبيحې له خوړلو)لهذاله مجوسی ښځې سره دمسلمان کس نکاح کول جائزنه ده ،قوله والوثنية ای وحرم تزوج الوثنية،يعنی دمسلمان کس له وثنيه يعنی بت پرستې ښځې سره هم نکاح کول جائزنه ده لقوله تعالی﴿وَلَا تَنكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ ﴾(يعنی نکاح مه کوئ له مشرکوخلکوسره ترڅوچې ايمان قبول نه کړي).

(۲۳)مسلمان ته له کتابيه ښځې (کتابی هغه دی کوم چې په کوم نبی باندي ايمان لري اودکوم اسمانی کتاب دمنلواقرارکوي)سره نکاح کول جائز ده لقوله تعالی﴿ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ ﴾(يعنی حلالې کړل شوي دي ستاسې لپاره له اهل کتاب څخه محصنې ښځې).

دنن صباداهل کتابوحکم

ف:دنن صباداهل کتابوپه باره کې حضرت تهانوی رحمه الله ليکي:ليکن په دي زمانه کې چې چاته نصاری ويل کيږي هغه اکثرپه قومي حيثيت سره نصاری دي په مذهبی حيثيت سره محض دهری اوسائنس پرست دي ددوئ لپاره داحکم دجواز نکاح نشته .فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم (امدادالفتاوی :۲/۲۱۳)

(۲۴)قوله الصابية ای وحل تزوج الصابية ،يعنی له صابيه ښځې سره نکاح کول حلال دي له صابيه ښځې سره دنکاح په جوازاوعدم جوازکې دامام ابوحنيفه رحمه الله اوصاحبينو رحمهما الله تعالی اختلاف دی .امام صاحب رحمه الله دجوازاو صاحبين رحمهما الله تعالی دعدم جوازقائل دي .په حقيقت کې دااختلاف دصابی په تفسيرکې دی .دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزدصابی هغه دی کوم چې زبورمنې اودستوروصرف تعظيم کوي نواهل کتاب څخه دکيدلوپه وجه سره له دوئ سره نکاح جائزده . دصاحبينوپه نزدصابی هغه دی کوم چې دستوروعبادت کوي اوکوم کتاب نه منې نوځرنګه چې دوئ اهل کتاب نه دي بلکه دعبدة الاوثانو په شان دي لهذاله دوئ سره نکاح کول جائزنه دي .نوکه داثابته شې چې واقعی هغوئ دستوروصرف تعظيم کوي نوبالاتفاق له صابيه ښځې سره نکاح جائزنه ده اوکه ثابته شې هغوئ دستوروعبادت کوي نوبالاتفاق له صابيه ښځې سره نکاح جائزنه ده ،کذافی مجمع الانهر:واختلف فی تفسيرها فمن قال:هم قوم من النصاری يقرؤن الکتاب ويعظمون الکواکب کتعظيم المسلمين للکعبة فلاخلاف فی صحة النکاح ومن قال هم يعبدونها کعبادة الاوثان فلاخلاف فی عدم صحته (مجمع الانهر:۱/۳۸۳)

(۲۵)قوله والمحرمة اى وحل تزوج المحرمة ،يعنى كومه ښځه چې په حالت احرام کې وي (خواه که دحج احرام وي که دعمري احرام وي)له هغې سره نکاح كول جائزده كه څه هم نارينه هم په محرم وي ولى چې نبى كريم ﷺ داحرام په حالت کې له حضرت ميمونه ﷺ سره نكاح كړي وه .

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدله محرمې ښځې سره نكاح كول جائزنه دي لقوله ﷺ ﴿ لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا يُنْكِحُ﴾ (نكاح دي نه كوي محرم اونه دبل نكاح وركوي)،زموږدليل دحضرت ابن عباس ﷺ حديث دى ﴿قال تزوج ميمونة وهو محرم ﴾(يعنى نبى كريم ﷺ له حضرت ميمونه ﷺ سره داحرام په حالت کې نكاح وكړه) امام شافعی رحمه الله ته ځواب وركړل شوى دى چې ستاپيښ كرده حديث په نهى تنزيهى باندي محمول دى يعنى دمحرم لپاره نكاح كول ياوركول مناسب نه دي ،ياپه حديث شريف کې له نكاح ځخه وطى مراده چې محرم دي به حالت احرام کې وطى نه كوي اومحرمه ښځه دي به وطى كولوتمكين نه وركوي.

(۲۶)قوله وامة اى حل تزوج امة غيره ،يعنى دغيرله مينځې سره نكاح كول جائزده خواه كه مسلمانه وي اوكه كتابيه وي لقوله تعالى﴿ فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ﴾ (يعنى نكاوكړئ له هغوښځوسره چې تاسې ته ښه لګي له دووددووسره له دروددروسره له څلوروڅلوروسره)او ﴿ وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ ﴾ کې له مطلق نساء سره نكاح كول عام دي خواه كه ازاده ښځه وي اوكه مينځه وي مسلمانه وي كه كتابيه وي .

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدله كتابيه مينځې سره نكاح كول جائزنه دي ولى چې له مينځې سره نكاح كول ضرورة جائزشوي ده اوكوم شى چې ضرورة ثابت وي هغه بقدرضرورت ثابت وي اوضرورت له يوي مسلماني مينځې سره په نكاح كولوپوره كيږي لهذاله كتابيه سره دنكاح كولوهيڅ ضرورت نشته ،امام شافعی رحمه الله ته ځواب وركړل شوى دى چې په مذكوره بالاايت کې لفظ دنساء ذكرشوى دى دالفظ لكه څرنګه چې ازادي ښځې ته شامل دى همداشان منكوحه مينځې ته هم شامل دى لهذادعددپه باره کې دمينځې هم هغه حكم دى كوم چې دازادي ښځې دى .

(۲۷)قوله والحرة على الامة اى وحل تزوج الحرة على الامة ،يعنى دچاپه نكاح کې چې مينځه موجوده وي دهغه له ازا دي ښځې سره نكاح كول جائزده لقوله ﷺ ﴿ وتنكح الحرة على الامة ﴾ (يعنى له حرې سره نكاح كيداى شي دباندي دموجود والى په وخت کې)،قوله ولاعكسه اى لايحل نكاح الامة على الحرة ،دمذكوره بالاصورت عكس جائزنه دى يعنى كه له وړاندي څخه ازاده ښځه دچاپه نكاح کې وي نوله مينځې سره نكاح جائزنه ده لقوله ﷺ ﴿ لَا تُنْكَحُ الْأَمَةُ عَلَى الْحُرَّةِ ﴾ (يعنى دازادي ښځې په موجودوالى کې له مينځې سره نكاح نشي كيداى).

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدغلام لره مذكوره بالاصورت جائزدى ،امام مالك رحمه الله فرمايي دازادي ښځې په رضامندي له مينځې سره نكاح كول جائزده ،والحجة عليهما ماروينا.

(۲۸)قوله ولوفى عدة الحرة اى لاتجوز الامة على الحرة ولو كان فى عدة الحرة ،يعنى كه چاچيلي ازادي ښځې ته طلاق وركړ اوهغه په عدة کې وه نوهم دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدله مينځې سره نكاح كول جائزنه دي ترڅوچې دازادي ښځې عدة پوره نشي ولى چې دعدة په دوران کې هم نكاح من جه باقى ده لهذاداصورت

هم دلاتنکح الامة علی الحرة په ممانعت کې داخل دی .صاحبین فرمایي چې که ازاده ښځه د طلاق بائن عده تیروي نو بیا د عدة په دوران کې له مینځې سره نکاح کول جائزده .

ف: احتیاط د امام ابو حنیفه رحمه الله په قول کې دی لمافي مجمع الانهر: لایحل له ان یتزوج فی عدتها امة عند الامام لان النکاح باق من وجه فلاحتیاط المنع کمالم یجز نکاح اختها فی عدتها (مجمع الانهر: ۱/۳۸۷)

(۲۹) وَأَرْبَعٍ مِنَ الْحَرَائِرِ وَالْإِمَاءِ فَقَطْ (۳۰) وَاثْنَتَيْنِ لِلْعَبْدِ (۳۱) وَحُبْلَى مِنْ زِنًا لَا مِنْ غَيْرِهِ (۳۲) وَالْمَوْطُوءَةِ بِمِلْكٍ أَوْ زِنًا (۳۳) وَالْمَضْمُومَةِ إلَى مُحَرَّمَةٍ وَالْمُسَمَّى لَهَا

ترجمه: او له څلورو ازادو ښځو سره (نکاح جائزده) یا څلورو مینځو سره فقط ،اوله دوو سره د غلام دپاره ،اوله زنا څخه له حاملې سره نه د هغې له غیرسره ،اوله موطوءه سره بسبب ملک یا زنا ،اوله هغې سره چې جمع کړل شوې وي له محرمې سره او مهرد دې لپاره دی.

تشریح: (۲۹) قوله اوربع من الحرائر والاماء فقط ای وحل للزوج اربع نسوة من الحرائر والاماء فقط ،یعنی داحنافو په نزد ازاد کس په یو وخت له څلورو ښځو سره نکاح کولی شي خوا څلور سره ازادي وي یا څلور سره مینځې وي ،یا ځینې ازادي وي یا ځینې مینځې وي ،له څلورو څخه له زیاتو سره نکاح جائزنه ده .دامام شافعي رحمه الله په نزد که له مینځې سره نکاح کول وغواړي نو صرف له یوې مینځې سره نکاح کولی شي له یوې څخه له زائد سره یې نشي کولی.زموږدلیل ارشادباری تعالی دی ﴿ فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ﴾ (یعنی نکاوکړئ له هغو ښځو سره چې تاسې ته ښه لګي له دوو دوو سره له درو درو سره له څلورو څلورو سره)دا ایت په بیان عدد کې نص دی او عدد د صراحت زیادت لره مانع دی، همدا راز په دې ایت مبارک کې لفظ د نساء ذکر دی دالفظ لکه څرنګه چې ازادو ښځو ته شامل دی همدا شان مینځو ته هم شامل دی .

(۳۰) قوله واثنتین للعبد ای وحل لتزوج ثنتین من الحرائر والاماء للعبد،یعنی د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد غلام لره له دوو ښځو سره نکاح کول جائزده له دوو څخه له زیاتو سره جائزنه ده .حال داچې د امام مالک رحمه الله په نزد غلام لره هم له څلورو ښځو سره نکاح کول جائزده .زموږدلیل دادی چې رقیت بالاتفاق د نعمتونو تنصیف کوي ،اوله ښځو سره نکاح کول هم د الله تعالی له طرف څخه یو نعمت دی لهذا رقیت په دې نعمت کې هم تنصیف کوي نو کله چې ازاد کس لره څلور ښځې جائزدي نو د غلام لپاره به دوه جائزې وي .

(۳۱) قوله وحبلی من زنالامن غیره ای یحل لتزوج حبلی من زنا،یعنی که چاله داسې ښځې سره نکاح وکړه کومه چې له زنا څخه حامله وي نو د طرفینو په نزد دانکاح جائزده ،د طرفینو دلیل دادی چې ﴿ وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ ﴾ حامله من زناته هم شامل دی ولی چې د محرماتو په بیان کې حامله من الزنانه ده ذکر شوي .البته طرفین فرمایي چې له حامله من الزنا سره به وطی نه کوي ترڅو چې دضع حمل وشي لقوله ﷺ ﴿ من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلا یسقین ماءه زرع غیره ﴾ (یعنی کوم شخص چې پر الله او د اخرت پرورځې ایمان لري هغه دې په خپلو ابو سره د بل چاکښت او به نه کړي)یعنی له کومې بلې حاملې سره دې وطی نه کوي .

ف: دامام ابو یوسف رحمه الله په نزد له حامله من الزنا سره نکاح کول فاسده ده ولی چې حمل که ثابت النسب وي نو د احترام حمل په وجه سره نکاح ناجائزه ده او حمل که له زنا څخه وي نو هغه هم محترم دی ولی چې حمل خوڅه جنایت نه دی کړی جنایت خو دزاني او مزنیه له طرف څخه دی لهذا له حامله من الزنا سره هم نکاح

جائزه نه ده .امام ابو يوسف رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې موږ دانه منو چې فسادنکاح د احترام حمل په وجه سره دی بلکه د صاحب ماء په وجه سره دی او صاحب ماء دلته زانی دی کوم چې قابل احترام نه دی.

ف: د طرفينو قول راجح دی لما في الهندية :وقال ابو حنيفة و محمد يجوز ان يتزوج امراة حاملا من الزنا ولا يطوها حتى تضع وقال ابو يوسف لايصح والفتوى على قولهما كذا في المحيط (هنديه: ۱/۲۸۰)

ف: دا بايد ياد وساتل شي چې مذکوره بالا اختلاف دغيرزانی په حق کې دی دزانی په حق کې نشته ،نوکه زانی له خپلې مزنيې سره نکاح وکړه نو بالاتفاق دانکاح صحيح ده او وطی هم کولی شي لما في البحر الرائق :امّا تزوج الزانی لها فجائز اتفاقا وتستحق النفقة عند الکل ويحل وطوها عند الکل کما في النهاية (البحر الرائق: ۳/۱۷۷)

قوله لامن غيره ای لايحل تزوج حبلی من غير زنا ،يعنی که کومه ښځه له زنی ځخه حامله نه وه بلکه له خپل زوج ځخه حامله وه نو دا سې عورت ځرنګه چې معتده الغير ده لهذا له دې سره نکاح کول بالاتفاق جائز نه ده لقوله تعالی ﴿ ولاتعزمواعقدة النکاح حتی يبلغ الکتاب اجله﴾ (يعنی اراده مه کوئ دنکاح ترځو چې خپل مقرر عدة انتهاء ته ونه رسيږي).

(۳۲)قوله والموطءة بملک ای وحل تزوج الموطوءة بملک ،يعنی که که چا له خپلې مينځې سره وطی وکړه بيا يې کوم بل کس ته په نکاح وکړه نوله استبراء رحم ځخه وړاندې ددې نکاح جائزه ده ولی چې دمينځه دمولی لپاره فراش ضعيف دی ولی چې که دمينځې بچی پيدا شونو دمولی په صرف انکار سره دبچې نسب منتفی کيږي دلعان ضرورت نشته دنکاح له صحت ځخه چې کوم مانع وو کله چې مينځه دمولی لپاره فراش ضعيف وګڼل شونو دنکاح دصحت لپاره هيڅ مانع پاتې نه شو .

ف: البته له نکاح ځخه وړاندې دصحيح قول مطابق په مولی باندې استبراء کول واجب ده ترځو دمولی خپلې اوبه محفوظې شي کما في الشامية :(قوله بل سيدها)ای بل يستبرئها سيدها وجوبا في الصحيح واليه مال السرخسی (ردالمحتار: ۲/۳۱۷)

ف: له نکاح کيدلو ځخه وروسته له استبراء ځخه وړاندې دشيخينو په نزد خاوند لره وطی کول صحيح دي ولی چې دشريعت له طرفه دجواز نکاح حکم کول درحم دفارغ والی علامه ده ولی چې نکاح په هغه وخت کې مشروع کړل شوي ده چې رحم فارغ وي او اوس چې کله رحم فارغ دی نو داستبراء ضرورت نشته .حال دا چې امام محمد رحمه الله فرمايي :زما په نزد دا ښه خبره نه ده يعنی استبراء واجب ده ولی چې دمولی په اوبو سره دمينځې درحم دمشغول والی احتمال دی ،فقيه ابو الليث فرمايي چې دامام محمد رحمه الله قول اقرب الی الاحتياط دی .(کذا في الهنديه: ۱/۲۸۰)

قوله او زنا ای حل تزوج الموطوءة بالوطی زنا ،يعنی که چا کومه ښځه دزنا کولو په حال کې وليد له بيا يې له هغې سره نکاح وکړه نو دشيخينو په نزد دا نکاح جائزه او دي کس لره له استبراء ځخه وړاندې له دي ښځې سره وطی کول جائزده .حال دا چې امام محمد رحمه الله فرمايي دا زما خوښه نه ده .دفريقينو هغه دلائل هغه دي کوم چې وړاندې ذکر شول .

(۳۳)قوله والمضمومة الی محرمة ای حل لتزوج المراة المضمومة الی امراة محرمة ،يعنی که چا په يوه عقد کې له دوو ښځو سره نکاح وکړه په دوئ کې يوه دده لپاره حلاله وه او بله دده لپاره حلاله نه وه په دې وجه چې دده

محرمه وه یا مشرکه وه یادکوم بل خاوندښځه وه نوکومه چې حلاله ده دهغې نکاح صحیح ده اوکومه چې حرامه ده دهغې نکاح باطله ده ولی چې بطلان بقدرمبطل وي اودلته وجه دبطلان صرف په یوه کې شته لهذادهغې بلې نکاح صحیح ده ،بیادامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدټول مقررشوی مهردهغې ښځې دی دکومې چې نکاح حلاله دهه ولی چې محرمه (کومه ښځه چې پرده حرامه ده) دمحللې (کومه ښځه چې ده ته حلاله ده)مزاحم نشې جوړیدلی لهذاټول مهربه دمحللې وي .

ف:دصاحبینوپه نزدبه مهرمسمی ددواړوپه مهرمثل باندي تقسیمیږي ولی چې مهرمسمی یې ددواړو دبضع مقابلې گرځولی دی لهذاپه دواړوبه تقسیمیږي بیاچې دکومې نکاح صحیح وه دهغې مهرلازم دی اودکومې نکاح چې صحیح نه وه دهغې مهرلازم نه دی ،فتوی دامام ابوحنیفه رحمه الله پرقول ده لماقی الهندیة :والمسمی کله للمحللة قال فی المبسوط وهو الاصح علی قول ابی حنیفة هکذافی القدیر (هندیه: ۱/ ۲۷۹) وقال ابن نجیم المصری: فترجح قوله علی قولهما. (البحرالرائق: ۳/ ۱۷۹)

دنکاح موقت اومتعې بیان

(۳۴) وَبَطَلَ نِكَاحُ الْمُتْعَةِ وَالْمُؤَقَّتِ (۳۵) وَلَهُ وَطْءُ امْرَأَةٍ ادَّعَتْ عَلَيْهِ أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا وَقَضَى بِنِكَاحِهَا بِبَيِّنَةٍ وَلَمْ يَكُنْ تَزَوَّجَهَا

ترجمه :اوباطله ده نکاح متعه اونکاح موقته ،اونارینه لره جائزده وطی کول له هغې ښځې سره کومې چې دعوه وکړه پردې نارینه چې ده له ماسره نکاح کړی ده اوفیصله وکول شوه ددې دنکاح پرگواهانو حال داچې له دې سره یې نکاح نه وه کړې .

تشریح :(۳۴)نکاح متعه باتفاق الائمه باطله ده ،نکاح متعه داده چې کوم کس کومې ښځې ته ووایې چې زه په تاسره تردومرمدې پورې نفع اخلم اوښځه دا قبول کړي .په دې عقدمتعه کې نه دلفظ نکاح ذکروي اونه دګواهانوموجودوالی ضروري وي ،دنکاح متعه په بطلان باندې دامت اجماع ده .متعه په اول کې حلاله وه دخیبرپه ورځ نبی کریم ﷺ دکورنیو خروغوښه اومتعه حرامه کړه بیادفتح مکې په موقع تردرېوورځوپورې حلاله کړل شوه له دې څخه وروسته دهیمشه لپاره حرامه شوه ،مروی ده چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه متعه حلاله ګڼله اهل یمن والاهم دده متابعت وکړ،نن صباپه امت کې صرف اهل تشیع ددې قائل دي ،جمهورامت متعه حرامه ګڼې ولی چې حضرت علی رضی الله عنه اواکثرصحابه کرام رضی الله عنهم دمتعې له حلالوالی څخه انکارکاوو لحدیث سبرة الجهنی رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ نهی عن المتعة وقال الا انها حرام من یومکم هذاالی یوم القیامة ومن کان اعطی شیئافلایاخذه .(سبره الجهنی رضی الله عنه فرمایې چې رسول الله ﷺ له متعې څخه منع وفرمایله اوویې فرمایل :چې خبردار !بې شکه متعه له نن ورځې څخه بیاتردقیامت تروړځې پورې حرامه ده اوچاچې دمتعې په عوض کې ښځوته څه ورکړي وي هغوئ دې هغه واپس نه اخلې)، همدارازمروی ده چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه هم وروسته له خپلې فتوی څخه رجوع کړي وه ولی چې حضرت علی رضی الله عنه ده ته وفرمایل :انک رجل تائه نهانارسول الله ﷺ عن متعة النساء یوم خیبر(ای ابن عباس ته له لارې څخه اوښتی یې نبی کریم ﷺ منع کړي ده دښځوله متعې څخه دخیبرپه ورځ).

همداشان نكاح موقت هم باطله ده .دنكاح موقت صورت دادى چې كوم كس له كومې ښځې سره باقاعده دګواهانوپه حضوركې نكاح وكړي مګرنكاح ابدى نه وي بلكه دمحدودي مدي لپاره وي مثلاً دلسوورځويايوې مياشتې لپاره وي. دنكاح موقتې دبطلان وجه داده چې په دي كې هم متعې معنى پرته ده ولى چې دنكاح موقت مطلب هم همدادى چې څوورځې نفع اخلم ،همداراز په نكاح موقت سره دنكاح مقاصدنه حاصليږي لهذادنكاح ابدى والى شرط دى .

ف:دامام زفر رحمه الله په نزدنكاح موقته صحيح اولازمه ده ولى چې نكاح په شروط فاسده سره نه باطليږي دامام زفر رحمه الله قول راجح دى اودامام زفر رحمه الله دقول مطلب دادى چې دانكاح اوس ابدى اولازمه ده توقيت باطل دى .

(۳۵)كه كومې ښځې په كوم كس باندي په درواغوسره دعوى وكړه چې دازماخاوندى خاوند انكاروكړحال داچې په حقيقت كې هم دي كس له دى ښځې سره نكاح نه وكړي بيادي ښځې په دي دعوى باندي ددرواغوشاهدان تيركړل قاضى ددي ظاهري شهادت په وجه ددي ښځې په حق كې فيصله وكړه يعنى ددواړوپه منځ كې يې دنكاح فيصله وكړه نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددانكاح ظاهرا اوباطنادواړه قسمه نافذه ده ولى چې دقاضى په حقيقت الحال باندي خبريدل متعذر دى دظاهرحال په ليدلوسره دقاضى په نزدصادق دي اودګواهانوصادق والى حجت دى اودفيصلې بنيادپه حجت باندي وي لهذادحجت دموجودوالى په وجه سره فيصله نافذيږي .ظاهري نفاذدادى چې حكم دنكاح نافذيږي يعنى دښځې دپاره نفقه ،قسم وغيره واجبيږي اوباطنى نفاذدادى چې دي كس لره له دي ښځې سره وطى كول فى ماينه وبين الله جائزده.

ف:دامام محمداوامام شافعى په نزدظاهرانافذه ده اوباطنانافذه نه ده دامام ابويوسف هم اخرى قول همدادى ولى چې ګواه درواغجن دي اوقاضى په حجة كې غلطى وكړه اوخطاء فى الحجة دباطنى نفاذلپاره مانع ده ،فقيه ابوالليث سمرقندي دصاحبينوپرقول فتوى وركړي ده لمافى البحرالرائق وذكرالفقيه ابوالليث ان الفتوى على قولهمافى اصل المسالة اعنى عدم النفاذباطنا(البحر الرائق:۳/۱۹۱)

بَابُ الْأَوْلِيَاءِ وَالْأَكْفَاءِ

دا باب داولياواواكفاءپه بيان كې دى

اولياء دولى جمع ده ولى ماخوذدى له ولايت څخه اوولايت تنفيذالامرعلى الغيرشاء اوابى (يعنى په غيرحكم نافذول خواه كه يې خوښه وي اوكه يې نه وي خوښه)ته ويل كيږي اواكفاء دكفوجمع ده په معنى دمثل ،نظير،مساوى ،همسر.

كله چې مصنف رحمه الله دمحرماتوله بيان څخه فارغ شونواوس داولياؤاواكفاؤاحكام بيانوي په دواړوبابونوكې مناسبت دادى لكه څرنګه چې دښځې محلله والى دنكاح دجوازلپاره شرط دى همدا شان دځينوائمه وپه نزددجوازنكاح لپاره دولى اوكفوموجودوالى هم شرط دى فرق دومره دى چې دښځې محلله

والي دجوازنكاح لپاره بالاتفاق شرط دى حال داچې دولي اوكفوشرط والي دجوازدنكاح لپاره مختلف فيه دي ځكه يې مؤخركو.

(٣٦)نفذنكاح حرّة مكلّفة بلاولي(٣٧)ولاتجبربكربالغة على النكاح(٣٨)فإن استأذنها الولي فسكتت اوضحكت اوبكت(٣٩)اوزوّجها فبلغها الخبرفسكتت فهواذن(٤٠)فإن استأذنها غيرالولي فلابدّمن القول(٤١)كالثيب

ترجمه:نافذيږي نكاح دازادې عاقلې بالغې ښځې دولي له اجازې څخه بغير،اونه به مجبوره كيږي بالغه باكره په نكاح باندي،نوكه يې اجازه وغوښته له دې څخه ولي اوداخاموشه شوه يايې وخندل يايې وژړل،يايې داپه نكاح وركړه بيادې ته خبوررسيدى اوداخاموشه شوه نوداجازت دى،اوكه اجازه وغوښته له دې څخه له ولي ماسوابل چانوضروري ده په ژبه سره وينا،دثيبه په شان.

تشريح:(٣٦)دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددحره،عاقله،بالغه ښځې نكاح ددې په خوښه سره دولي له انعقاداواجازت څخه بغيرهم منعقده كيږي خواه كه عقد خپله ښځه وكړي يايې په وكيل وكړي خواه كه ښځه باكره وي اوكه ثيبه وي ولي چې داخالص په خپل حق كې تصرف كوي اوداتصرف اهل هم ده همدا وجه ده چې داپه خپل مال كې تصرف كولى شي.

ف:امام ابويوسف رحمه الله په پيل كې دولي له اجازت څخه بغيردانعقادنكاح قائل نه وو وروسته يې جائزه وبلله په دې شرط چې په كفوكې وي وروسته يې بيامطلقادجوازطرف ته رجوع وكړه،دامام محمد رحمه الله په نزدنكاح منعقده كيږي مگر دولي تراجازې به موقوفه وي ليكن مروى ده چې امام محمد رحمه الله هم دشيخينودقول طرف ته رجوع كړي ده.(كذافى البحرالرائق:١٩٤/٣)

ف:دنورائمه ثلاثه ويه نزددولي له اجازې څخه بغيردښځې نكاح كول جائزنه ده هغوئ په عبارات النساء سره دانعقادنكاح قائل نه دي ولي چې له حضرت عائشه رضي الله عنها څخه روايت دى چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل﴿ايماامرأة نكحت نفسهابغيراذن وليهافنكاحهاباطل﴾(يعنى كومه يوه ښځه چې هم دخپل ولي له اجازت څخه بغيرنكاح وكړي نودهغې نكاح باطله ده)،مگردوئ ته ځواب وركړل شوى دى چې دحضرت عائشې رضي الله عنها حديث قابل استدلال نه دى ولي چې په خپله حضرت عائشې رضي الله عنها دحضرت عبدالرحمن بن ابى بكر رضي الله عنه په نه موجودوالي كې دهغه دلورنكاح كړى وه اوقاعده ده چې كله كوم راوى دخپل روايت پرخلاف عمل وكړي نوهغه روايت باطل شمارل كيږي.

(٣٧)ولي لره داجائزنه ده چې بالغه عاقله ښځه په نكاح كولو مجبوره كړي خواه كه باكره وي اوكه ثيبه وي ولي چې دښځې له بلوغ څخه وروسته دولي ولايت اجبارمنقطع كيږي.

ف:ولايت پردوه قسمه دى،ولايت ندب،ولايت اجبار،.ولايت ندب پرعاقله بالغه باندي وي كه باكره وي كه ثيبه وي،او ولايت اجبارپرصغيره باندي وي كه باكره وي كه ثيبه وي،نوزموږ په نزدولايت اجبارمدارپه صغردى ولي چې دصغرسنى په وجه سره عقل كم وي دكوم په وجه سره چې هغه دخپل ذات په باره كې دتصرف اهل نه وي اوله بلوغ څخه وروسته عقل تاميږي په همدې وجه سره دبارى تعالى خطاب هم ددې طرف ته متوجه كيږي،حال داچې دامام شافعي رحمه الله په نزد دولايت اجبارمدارپه باكره والي باندي دى

لهذازموږ په نزدپرباكره بالغه باندي ولی لره حق اجبارنشته اوداامام شافعی رحمه الله په نزدولی لره حق اجبارحاصل دی.

(۳۸)كه ولی له بالغې باكري څخه دهغې دنكاح كولواجازت وغوښتي نوداخاموښه شوه ياپې وخندل ياپې بې له اوازه وژړل نوداخاموش والی ياخندل ياژړابه ددي له طرفه داجازت وي په دي شرط چې خندابه استهزاء نه وي ولی چې باكره ښځه په نكاح كې له رغبت ښكارولو څخه شرميږي مګرله انكار كولو څخه نه شرميږي نوكه داناراضه وای نوصاف انكاربه يې كړی وای لهذاخاموشي ،ياخندا درغبت علامه ګڼل كيږي ،اوبې له اوازه ژړاهم پرنكاح دنه راضی والی علامه نه ده بلكه له خپلوانوڅخه په جدای دغم علامه ده لهذابې له اوازه ژړابه هم دباكري له طرفه څخه اجازت ګڼل كيږي اوكه باكره انكاروكړي نوولی دی ددي نكاح نه كوي ولی چې دبلوغ په وجه سره دولی ولايت منقطع شوی دی.

(۳۹)همداشان كه ولی دبالغې باكري نكاح وكړه بيادي ته خبرورسيدواوداخاموشه پاتې شوه نودابه هم ددي له طرف څخه دنكاح اجازت ګڼل كيږي لمامر.

(۴۰)اوكه له بالغې باكري څخه له ولی ماسواكوم بل چادنكاح اجازه وغوښته نواوس درضامندي داظهارلپاره سكوت ياضحک كافی نه دی بلكه داجازت وركولولپاره په خوله سره خبره كول ضروري ده ولی چې په دي خاموشي كې دعدم رضااحتمال هم شته چې دغيردكلام لورته دقلت التفات په وجه سره سكوت اختياركړی وي اودولی په حق كې دضرورت په وجه سره په دي شان سره رضامندی معتبره ګرځول شوي ده حال داچې دغيرولی په حق كې هيڅ ضرورت نشته ولی چې باكره بالغه داغيارو په مخ كې له كلام كولو څخه نه شرميږي.

(۴۱)قوله كالثيب ای كمالابدللثيب من النطق عندالاستيذان ،يعنی كه ولی له ثيبې بالغې څخه دنكاح په باره كې اجازه وغوښته نوددي له طرف څخه دضامندي اظهارپه ژبه سره كول ضروري دی ولی چې ثيبه اوس دنكاح په اموروكې تجربه لري اوله نارينه وسره ددي داختلاط په وجه ددي حياء هم كمه شوي ده لهذاددي په حق كې په تكلم سره درضاله اظهارڅخه هيڅ مانع نشته.

(۴۲)وَمَنْ زَالَتْ بَكَارَتُهَا بِوَثْبَةٍ أَوْ حَيْضَةٍ أَوْ جِرَاحَةٍ أَوْ تَعْنِيسٍ (۴۳)أَوْ زِنَا فَهِيَ بِكْرٌ (۴۴)وَالْقَوْلُ قَوْلُهَا إِنِ اخْتَلَفَا فِي السُّكُوتِ

ترجمه:اودچاچې بكارت زائل شوی وي په ټوپ اچولويا په حيض يا په زخم سره ياتر ډيره پوري په بې نكاح پاته كيدلويا په زناسره نوهغه باكره شمارل كيږي اوقول دښځې معتبردی كه دوارو اختلاف كړيه سكوت كې

تشريح:(۴۲)كه دكومې انجلۍ بكارت زائل شودټوپ اچولوپه وجه سره يادقوت حيض په وجه سره يادكوم زخم په وجه سره يادكثرت عمرپه وجه سره نوپه دي ټولوصورتونوكې داانجلۍ دباكري په حكم ده يعنی داستيذان په وخت كې ددي سكوت اذن نه شمال كيږي ولی چې داښځه حقيقة باكره ده په دي وجه چې له دي سره جماع كول اول ځل جماع ده اوباكره هغه ده چې له هغې سره تراوسه پوري چاوطی نه وي كړي.

(۴۳)اوكه دباكري بكارت په زناسره زائل شونودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدداهم دباكري په حكم كې ده ولی چې خلک داباكره ګڼی نوكه دنكاح په باره كې كلام وكړي نوخلک به دامعيوبه كړي نوهغه له

كلام كولو څخه منع كوي په دي وجه ددي به ددي په سكوت باندي اكتفاء كيږي ترڅوچې پردي ددي مصالح معطل نه شي.

ف: دامام شافعي اوصاحبينو په نزد دا ښځه دثيبه په حكم كې ده ولى چې له دي سره جماع كول اول ځل جماع نه شمارل كيږي لهذاددي په سكوت باندي به اكتفاء نه كيږي ولى چې داپه حقيقت كې ثيبه ده . دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دى لمافى القول الراجح: ان الراجح هو قول الامام ابى حنيفة　قال العلامة ابن الهمام والاولى ان الغرض ان الزناء غير مشهور ففى الزامها النطق اشاعة له فيعارض دليل الزامها النطق دليل المنع من اشاعة الفاحشة　فى هذه الصورة والمنع　يقدم عند التعارض فيعمل دليل نطق الثيب فيما وراء هذه (القول الراجح: ١/٢٥٣)

(۴۴)كوم كس كومې باكري ښځې ته وويل تاچې كله داخبررسيدلى وو چې ستانكاح زماسره شوي ده نوته خاموشه شوي وي لهذازماسره ستانكاح شوي ده ،ښځې وويل يابلكه ماته په اطلاع رسيدلو سره ماردكړي وه لهذا نكاح نه ده شوي ،نوقول به دښځې معتبروي ولى چې ښځه له لزوم عقد څخه انكاركوي (حال داچې له نارينه سره ګواه نشته)لهذا دښځې قول به معتبروي.

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد پرښځې قسم هم نشته حال داچې دصاحبينو په نزد پرښځې قسم شته ، مذكوره بالااختلاف پردي اصل مبنى دى چې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپه باب نكاح كې استحلاف نشته خلافالهما ،فتوى دصاحبينو پرقول ده كمافى شرح التنوير: (فالقول قولها) بيمينها على المفتى به ،قال ابن عابدين: (قوله على المفتى به) وهو قولهما وعنده لايمين عليها كماسيأتي فى الدعوى فى الاشياء الستة (ردالمحتار: ٢/٣٢٨)

(٤٥)وَلِلْوَلِيِّ إِنْكَاحُ الصَّغِيرِ وَالصَّغِيرَةِ (٤٦)وَالْوَلِيُّ الْعَصَبَةُ بِتَرْتِيبِ الْإِرْثِ (٤٧)وَلَهُمَا خِيَارُ الْفَسْخِ بِالْبُلُوغِ فِي غَيْرِ الْأَبِ وَالْجَدِّ بِشَرْطِ الْقَضَاءِ

ترجمه :اوولى لره اختياردي دكوچنى هلک اوكوچنۍ انجلۍ په نكاح دوركولو ،اوولى عصبه وي دوارثت په ترتيب سره، اودوئ لره اختياردى دفسخ ده نكاح له بالغ والى څخه وروسته له داب اوجد څخه دغيرپه صورت كې په دي شرط چې دقاضى حكم وي.

تشريح: (۴۵)قوله وللولى الكاح الصغيراى يجوز للولى الكاح لصغير ،يعنى ولى لره دكوچنى هلک اوكوچنۍ انجلۍ نكاح كول جائزده خواه كه صغيره باكره وي اوكه ثيبه وي ولى چې شرائط ولايت موجوددي يعنى ددوئ دصغرسنى (يعني كم عمري)په وجه سره عاجزوالى.

(۴۶)دنكاح په باب كې داولياؤ هغه ترتيب دى كوم چې دوراثت په باب دعصباتوترتيب دى ترتولودمخه حقدارزوى دى بيالمسى بياكړوسى وان سفل ،داصورت په صغاروكې متصورنه دى هوپه معتوه، اومجنونه كې متصوردى .اوكه زوى وغيره نه وه نوبياپلارپبانيكه وان علا،اوكه دانه وو بياوروردى ماسواله اخيافي وروره ،بياورارره دى وان سفل ،اوكه داهم نه وو نوبياكادى ماسواله اخيافي اكا څخه ،بياداكازوى دى وان سفل :داولياؤپه باره كې اصل هغه روايت دى كوم چې له حضرت على رضي الله عنه څخه موقوفاومرفوعامروى دى ﴿ الْإِنْكَاحُ إِلَى الْعَصَبَاتِ ﴾(دنكاح دوازحق عصباتولره دى).

(۴۷)قوله ولهماخيار الفسخ اى للصغير والصغيرة خيار الفسخ بالبلوغ ،يعنى كه له پلاراونيكه څخه ماسوا كوم بل ولى نكاح كړي وي نوكه څه هم په مهرمثل اوكفوكې يې كړي وي بياهم له بلوغ وروسته دطرفينو په نزدصغيراوصغيرې لره خياربلوغ حاصل دى كه يې خوښه شوه نكاح دي برقراروساتي اوكه يې خوښه شوه

نوفسخ دي کړي ولی چې له پلاراونیکه څخه په علاوه کې شفقت کامل نه دی بلکه قاصردی نودشفقت دنقصان په وجه سره په مقاصدنکاح کې خلل واقع کیدل ممکن دي دکوم چې تلافی په خیاربلوغ سره ممکنه ده په دي وجه دوئ لره خیاربلوغ حاصل دی ،بیاکه دخیاربلوغ په وجه سره نکاح فسخ کیده نوپه دي کې دقاضي قضاء شرط ده یعنی له صغیرینوڅخه دیوه قول فسخت النکاح ویل کافی نه ده بلکه دقاضی په عدالت کې به مقدمه پیش کړي بیابه قاضی دفسخ نکاح حکم ورکړي نونکاح به فسخه شي ولی چې ددي خیارپه سبب کې ضعف دی اوسبب خیاردولی شفقت ترک کول دي لهذا په قضاء قاضی پسې به موقوفه وي ترڅودي ته استحکام حاصل شي .

ف:امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې دوئ دواړولره خیارفسخ نشته ولی چې نکاح عقدلازم دی له ولی څخه صادرشوی دی لهذاددي دفسخ په اختیارورکولوسره ددي لزوم ساقطول صحیح نه دي، همدارازدی نوراولیاء په پلاراونیکه باندي قیاسوی ،دطرفینو قول راجح دی لمافی الدرالمختار:(وان کان من کفء وبمهرالمثل صح و)لکن(لهما)ای الصغیروالصغیرة وملحق بهما(خیارالفسخ)ولوبعدالدخول(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۳۳۲)

ف:که دصغیراوصغیري نکاح له پلاراونیکه څخه یوه وکړه نوکه څه هم په غبن فاحش یاپه غیرکفوکې هم وي نودانکاح لازمه ده له بلوغ وروسته صغیراوصغیه خیاربلوغ نه حاصلیږي ولی چې پلاراونیکه دواړه کامل رائ اوډیرشفقت لري په دي وجه ددواړونکاح لازمه ده نوداسې شوه لکه له بلوغ څخه وروسته چې پلاریانیکه ددوئ په رضاسره نکاح ورکړي وي.

(۳۸)وَبَطَلَ بِسُكُوْتِهَا اِنْ عَلِمَتْ بِكْرًا(۳۹)لَا بِسُكُوْتِهٖ مَالَمْ يَرْضَ وَلَوْ دَلَالَةً(۵۰)وَتَوَارُثًا قَبْلَ الْفَسْخِ

ترجمه :اوخیارفسخ باطلیږي ددي په سکوت سره که دي لره علم حاصل شوی وي دبکرپه حالت کې ،نه دصغیرپه خاموشۍ سره ترڅوچې راضي شوی نه وي که څه هم دلالةً وي ،اودواړه به وارثان وي له فسخ نکاح څخه وړاندي .

تشریح :(۴۸)یعنی که دصغیرینونکاح له پلاراونیکه څخه ماسوکوم بل ولی وکړه نوځرنګه چې اوس په بالغ والی سره دوئ ته خیارفسخ حاصل دی مګرداسې وشوچې انجلۍ بلوغ ته په رسید وسره خاموشه شوه سره له دي چې داپه نکاح هم خبره وه نودانجلۍ دخاموشۍ په وجه سره ددي خیارفسخ باطلیږي ولی کله چې ولی دبالغې باکرې نکاح ابتداء وکړي اوداخاموشه شې نوداخاموشۍ اجازت ګڼل کیږي نودخیارفسخ په صورت کې به هم ددي خاموشۍ اجازت ګڼل کیږي .

(۴۹)قوله لابسکوته مالم یرض ای لایبطل خیارالصغیربسکوته مالم یقل رضیت ،یعنی دهلک خیاربلوغ په صرف سکوت سره نه باطلیږي ترڅوچې په ژبه سره درضامندي اظهارونه کړي مثلاًداسې ووایې رضیت بالنکاح ،یاله ده څخه دراضی کیدلوکوم واضح دلیل ښکاره شي مثلاً له دي ښځې څخه مچه واخلي یاله دي سره وطی وکړي یادي ته ددي مهراونفقه ورکړي ،حالت بلوغ په حالت ابتداء باندي قیاسوي چې په ابتداء نکاح کې دهلک خاموش پاته کیدل کافی نه دي بلکه اظهاررضاضروري دی .

(۵۰)که دصغیرینونکاح له ابن اوله جدڅخه ماسواکوم بل ولی کړي وه نو په دي صورت کې ځرنګه چې دوئ لره خیار فسخ دبلوغ پروخت حاصلیږي لیکن که له بلوغ څخه وروسته دقاضی ددوئ په منځ

کې له تفريق کولو څخه وړاندې په دوئ کې يو مړ شونو هغه بل به دده وارث وي ولي چې داحد الزوجين په مرګ سره نکاح انتهاء ته رسيږي اوکوم شی چې پای ته ورسيږي هغه زائليږي نه بلکه په مستحکم دول سره ثابتيږي نوکله چې په مرګ سره دنکاح قرابت مستحکم شونوپه خپل منځ کې به يوه ته دهغه بل وراثت حاصليږي .

(۵۱) وَلَا وِلَايَةَ لِصَغِيرٍ وَعَبْدٍ وَمَجْنُونٍ (۵۲) وَلَا لِكَافِرٍ عَلَى مُسْلِمَةٍ

ترجمه: اودولايت حق حاصل نه دی غلام ،صغيرا ومجنون لره ،اونه کافرلره په مسلمانې ښځې باندې .

تشريح: (**۵۱**) غلام ،صغيراومجنون يوه لره هم دولايت حق حاصل نه دی يعني دوئ دهيچاولی نشې جوړيدلی ولي چې دوئ لره په خپل ځان دولايت نشته نوپه بل چاخوبه په طريقه اولی سره دوئ لره دولايت حق حاصل نه وي ځکه چې ولايت متعديه دولايت قاصره فرع ده .

(**۵۲**) قوله وکالکافرعلی مسلمة ای لاولاية لکافرعلی مسلمة ،يعني کافرلره په مسلمانې ښځې باندې دولايت حق نشته لقوله تعالی ﴿وَلَن يَجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا﴾ (هيڅکله به جوړه نه کړي الله تعالی کافرلره په مسلمان باندې کومه لار)،له لاري اوسبيل څخه مراددلته تصرف شرعی دی ،همداوجه ده چې دمسلمان پرخلاف دکافرګواهی نه قبليږي ،اوپه مسلمان اوکافرکې يوهم دهغه بل وارث نشې جوړيدلی،البته کافردخپلې کافرې لورنکاح کولی شي لقوله تعالی ﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ (يعني کفاربعض دبعضوولیان دي)همداوجه ده چې دکافرپه خلاف دکافرګواهی قبليږي اويوکافردبل کافروارث کيدای شي .

(۵۳) وَإِن لَّمْ تَكُنْ عَصَبَةٌ فَالْوِلَايَةُ لِلْأُمِّ ثُمَّ لِلْأُخْتِ لِأَبٍ وَأُمٍّ ثُمَّ لِأَبٍ ثُمَّ لِأَوْلَادِ الْأُمِّ ذُكُورُهُمْ وَإِنَاثُهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ ثُمَّ لِأَوْلَادِهِمْ ثُمَّ لِلْعَمَّاتِ ثُمَّ لِلْأَخْوَالِ وَالْخَالَاتِ ثُمَّ لِبَنَاتِ الْأَعْمَامِ ثُمَّ لِلْحَاكِمِ (۵۴) وَلِلْأَبْعَدِ التَّزْوِيجُ بِغَيْبَةِ الْأَقْرَبِ مَسَافَةَ الْقَصْرِ (۵۵) وَلَا يَبْطُلُ بِعَوْدِهِ (۵۶) وَوَلِيُّ الْمَجْنُونَةِ الِابْنُ لَا الْأَبُ

ترجمه: اوکه دکومې ښځې عصبات نه وو نودولايت حق مورلره دی بياحقيقي خورلره بياعلاتی خورلره بيااخيافي وروروخورلره بياذوی الارحامولره بياحاکم لره دی،اوولی بعيدته دنکاح کولواختيارشته دولی قريب دغائبيدلوپه صورت کې بقدردمسافت دقصر،اونه باطليږي دولی قريب په بيرته واپس راتلوسره،اودمجنونې ولی زوی دی نه پلار.

تشريح: (**۵۳**) دامام ابوحنيفه رحمه الله دقول مطابق که دصغيرې کوم عصبه نه وو نوبياولايت نکاح ددې مورلره حاصل دی که مورنه وه بيادد ې حقيقې خورلره حاصل دی که حقيقې خورنه وه بياعلاتی خور (کومه چې صرف په پلارشريکه وي)لره حاصل دی که هغه نه وه بيااخيافی خور،یاورور(يعنی کوم چې صرف په مورشريک وي)لره حاصل دی اخيافی وروراوخورپه حق ولايت کې سره برابردي که په دوئ کې څوک نه وو نوبيانوروذوی الارحامو(مثلاعمه ،بياماما ، بياخاله، بيادماما اولادعلی هذاالقياس) لره حاصل دی اوکه داهم نه وو نوبياحاکم ته حق ولايت حاصل دی لقوله ﷺ ﴿ السُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ ﴾ (يعنی امام ولی دی دهرهغه چادکوم چې ولی نه وي).

ف:لورذکرشوی تفصيل دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددی چې که دصغيرې عصبات نه وو نونوروقريبانو مثلاماما،خاله وغيره ته ولايت ثابتيږي ،حال داچې دامام محمد رحمه الله په نزددعصباتو دنه وجودپه صورت

کې ولایت نورو قریبانو ته نه ثابتیږي ولی چې د نبی کریم ﷺ ارشاد دی ﴿الإنكاح إلى العصبات﴾ (یعنی نکاح عصبات ته سپارل شوي ده) د الانکاح او العصبات الف لام جنسی دی یعنی جنس نکاح جنس عصباتو ته سپارل شوي ده له عصباتو څخه ماسوا د نور قریبانو په دي کې هیڅ دخل نشته .او د امام ابویوسف رحمه الله قول مضطرب دی مشهوره داده چې امام ابویوسف رحمه الله له امام محمد رحمه الله سره دی . د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې د ولایت مدار پر شفقت دی او شفقت په هرهغه کس کې موجود دی په کوم کې چې داسې قرابت وي کوم چې باعث شفقت وي لهذا په چاکې داسې قرابت وي هغه ته ولایت حاصل دی خواه که عصبه وي یا غیر عصبه او د کومو قریبانو تذکره چې وشوه په هغوئ کې همدغه شفقت موجود دی کوم چې د شفقت سبب دی.باقی د حدیث مطلب دادی چې د عصباتو په موجود والی کې ولایت دوئ ته سپارل شوی دی د نورو دخل نشته، دامطلب نه دی چې د عصباتو په عدم موجودوالی کې هم نورو لره دخل نشته .

ف:د امام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الشامیة :(قوله فالولاية للام الخ)ای عند الامام ومعه ابویوسف فی الاصح وقال محمد لیس لغیر العصبات ولایة وانماهی للحاکم والاول الاستحسان والعمل علیه الافی مسائل لیست هذه منها فما قیل من ان الفتوی علی الثانی غریب لمخالفته المتون الموضوعة لبیان الفتوی من البحر والنهر (ردالمحتار:۲/۳۳۹)

(۵۴)که د کومې انجلۍ ولی اقرب (مثلاپلار)په غیبت منقطه سره غائب شونو ولی ابعد (مثلانیکه)لره ولایت تزویج حاصلیږي ولی چې د ولایت مدار پر شفقت دی او د چاله رأي څخه چې نفع اخیستل ممکن نه وي د نکاح د امورهغه ته په سپارلو کې هیڅ شفقت نشته په دي وجه مورولی ابعد ته ورسپاری ،او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد ولی ابعد له امام المسلمین څخه مقدم دی د امام شافعی رحمه الله په نزد امام مقدم دی.له غیبت منقطه څخه مراد دادی چې دا دنی مدي د سفر یعنی د دریو ورځو په مسافت تللی وي .

ف:د ځینو حضراتو رأیه داده چې ولی په کوم داسې ښارکې وي چیرته چې قافلې په کال کې صرف یو ځل ورځې. او د ځینو رأیه داده چې که ولی داسې ځای ته تللی وو چې که د ده رأیه معلومه کیده نو کفو فوت کیده نو دا به ګڼل کیږي چې دی غائب په غیبت منقطعه سره دی او همدا اخري قول اقرب الی الفقه دی ولی چې د کفو د فوت کیدلو باوجود په ولایت باقی پریښودلو کې هیڅ شفقت نشته کمافی الشامیة :وقال فی الذخیرة الاصح انه اذاکان فی موضع لو انتظر حضوره او استطلاع رأیه فات الکفو الذی حضر فالغیبة منقطعة والیه اشار فی الکتاب وفی النهایة واختاره اکثر المشائخ وصححه ابن الفضل وفی الهدایة انه اقرب الی الفقه وفی الفتح ان الاشبه بالفقه وفی شرح الملتقی عن الحقائق انه اصح الاقاویل وعلیه الفتوی (ردالمحتار:۲/۳۴۳)

(۵۵)په لوړ ذکر شوي صورت که ولی ابعد نکاح وکړي بیا ولی اقرب واپس راشي نو دده په بیرته راتللو سره د ولی ابعد کړل شوي نکاح نه باطلیږي که څه هم ولی اقرب پر دي راضی نه وي ولی چې د ولی ابعد کړل شوي نکاح له ولایت تامه څخه صادره شوي ده .

ف:د امام زفر رحمه الله په نزد ولی ابعد له طرفه شوي نکاح باطلیږي ،زمونږ دلیل دادی چې شریعت ابعد د اقرب قائم مقام جوړ کړی دی او قاعده داده چې په قائم مقام سره د مقصود له حاصلیدلو څخه وروسته پر اصل

باندي قدرت مفسدعمل نه دی لکه څرنګه چې څوک په تمیم سره له لمانځه اداء کولو وروسته په اوداسه باندي قادرشي نوپه تیمم سره اداء شوی لمونځ نه باطلیږي.

(۵۶)صورت مسئله دادی چې دکومې مجنوني ښځې پلارهم شته اوله مخکني خاوندڅخه یې زوی هم شته نودشیخینوپه نزددولایت حق زوی ته حاصل دی اودامام محمد رحمه الله په نزدپلارته حاصل دی. دامام محمد رحمه الله دلیل دادی چې ددي ولایت مدارپرشفقت باندي دی اوشفقت په پلارکي دزوی په نسبت زیات دی همداوجه ده چې پلاردمال اونفس دواړوپه باره کې ولایت حاصل دی حال داچې زوی لره ولایت مال حاصل نه دی لهذادولایت نکاح به پلارلره وي .دشیخینودلیل دادی چې په عصبه والی کې زوی ترپلارمقدم دی اوداولایت پرعصوبت باندي مبنی دی ولی چې دنبی کریم ﷺ ارشاددی ﴿الإنكاح إلى العصبات﴾(یعنی نکاح عصوباتوته سپارل شوی ده)لهذاددي ولایت حق به دزوی وي.

ف:لیکن افضل دادی چې پلارزوی ته دنکاح کولوامروکړی ترڅوبلاخلافه جائزشي لمافي الدرالمختار:(وولي المجنونة في النكاح ابنهادون ابيها) كمامر والاولى ان يأمر الاب به ليصح اتفاقا(الدر المختار على هامش ردالمحتار:۲/۳۴۳)

فَصْلٌ فِي الْأَكْفَاءِ

دافصل دهمسرو(هم مثلو)په بیان کې دی

اکفاء،دکفوجمع دی په معنی دنظیراوهمسر،دنکاح په باب کې کفاءت (دنارینه له ښځې سره په اسلام ، نسب،تقوی، حریت اوپه مال او حرفت کې مساوي والی ته کفاءة ویل کیږي)معتبردی اوکفاءت دنارینه له طرفه معتبردی ولی چې شریفه ښځه دخسیس لپاره فراش والی نه خوښوي لهذاکفاءت ضروري دی ، اودښځې له طرفه معتبرنه دی ولی چې دنارینه لپاره دناءة فراش دعارباعث نه دی.

که ښځه خپله نکاح په خپله کوي نوددي پرولی دنکاح دلازموالی لپاره دنکاح په کفوکې کیدل شرط دی که نه نو ولی ته حق فسخ حاصلیږي لهذادکفاءت مسئله دوجودولی فرع ده په دي وجه یې داولیاؤاحکام مقدم بیان کړل اوس دکفاءت احکام بیانوي.

(۵۷)مَن نَكَحَتْ غَيْرَ كُفْءٍ فَرَّقَ الْوَلِيُّ (۵۸) وَرِضَا الْبَعْضِ كَالْكُلِّ (۵۹) وَقَبْضُ الْمَهْرِ وَنَحْوِهِ رِضًا لَا السُّكُوتُ (۶۰) وَالْكَفَاءَةُ تُعْتَبَرُ نَسَبًا فَقُرَيْشٌ أَكْفَاءٌ وَالْعَرَبُ أَكْفَاءٌ وَحُرِّيَّةً وَإِسْلَامًا وَأَبَوَانِ فِيهِمَا كَالْآبَاءِ وَدِيَانَةً وَمَالًا وَحِرْفَةً (۶۱) وَلَوْ نَقَصَتْ مِنْ مَهْرِ مِثْلِهَا فَلِلْوَلِيِّ أَنْ يُفَرِّقَ أَوْ يُتِمَّ مَهْرَهَا

ترجمه :کومه ښځه چې نکاح وکړي په غیرکفوکې نوتفریق دي وکړي په دوئ کې ولی ،او دځینورضا دټولورضاده ، او قبضه کول په مهروغیره رضاده نه خاموشي ،اوکفائت معتبردی دنسب په اعتبارسره نوقریش په خپل منځ کې سره کفودی اوعرب په خپل منځ کې سره کفودي ،اوازادی او اسلام په لحاظ سره اوپلاراونیکه په دوئ کې داباءاواجدادوپه شان دي اوپه دینداري اومال اودکسب په لحاظ سره ، اوکه ښځې کم کوله مهرمثل څخه نوولی لره اختیاردی چې په دوئ کې تفریق وکړي یاخاوندپوره کړي ددي مهرمثل.

تشريح:(۵۷) كه كومې ښځې خپله نكاح پخپله له غيركف سره وكړه نو داځرنګه چې ددې داوليأوپه حق كې باعث دعارده لهذااوليأولره داحق حاصل دی چې ددوئ په منځ كې دقاضي په فيصله سره تفريق وكړي ترڅوله اوليأوڅخه عاردفع شي .

ف:اوداحق دښځې دبچي ترپيداكيدلومخكې دی دبچې له پيداكيدلوڅخه وروسته داوليأوداحق ساقطيږي ترڅوبچي ضائع نه شي .دظاهرمذهب دی حال داچې دحسن په روايت كې راغلی دي چې دانكاح بالكل منعقده شوي نه ده ځرنګه چې دواړه قولونه مفتی به دي لهذاپردواړوفتوی وركول كيدای شي خوبياهم احتياط دحسن په روايت كې دی .

(۵۸)كه كومې ښځې له غيركف سره خپله نكاح وكړه نوددې اوليأولره ځرنګه چې حق دفسخ حاصل دی مګرداسې وشوچې دښځې بعضواوليأوپردې خپله رضامندې ښكاره كړه نودابه اوس دټولواوليأو رضاګڼل كيږي په دې شرط چې اوليأ په درجه كې سره مساوی وي دادطرفينومذهب دی .امام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې دبعضورضادټولورضانه ګڼل كيږي ولی چې داخوداسې ده لكه چې ددوو قرض وركونكوپريوچاباندې مشتركه قرضه وي نوديوه دخپل حق په ساقطولوسره دهغه بل حق نه ساقطيږي .دطرفينودليل دادی چې ځرنګه چې داحق واحددی تجزی نه قبلوي لهذابعضوپه ساقطولو سره دټولوله طرفه ساقط ګڼل كيږي حال داچې ددين په صورت كې حق واحدنه دی بلكه متعدددی ، البته كه اوليأ په درجه كې سره برابرنه وو نودابعدپه رضاسره بالاتفاق داقرب حق نه ساقطيږي .

(۵۹)كه كومې ښځې له غيركف سره خپله نكاح وكړه نوددې اوليأولره ځرنګه چې حق دفسخ حاصل دی مګرداسې وشو چې ولی له خاوندڅخه دښځې مهروصول كويايې دښځې نفقه وغيره قبض كړه يايې دتجهيزبندوبست وكړيايې دخاوند هديه قبوله كړه نودا پردې نكاح دولی درضامندې ثبوت دی ولی چې دادحكم عقدتقريراوتحكيم دی لهذاله دې څخه وروسته به دده دفسخ حق باقي نه پاتې كيږي .اوكه ولی ددې دنكاح خبرواوريدواوخاموش شونودادده درضاثبوت نه دی ولی چې خاموشي په هغو حقوقوكې درضادليل دی په كوموكې چې خبرې كول عيب شمارل كيږي وهذاليس كذالك .

(۶۰)په كومه شيانوكې چې كفاءة معتبردی له هغوڅخه مصنف رحمه الله شپږشيان ذكركړي دي

نمبر ۱.په نسب كې كفاءة معتبردی ولی چې خلك په خپلومنځونوكې په نسب سره يوپربل فخركوي ، نوقريش په خپل منځ كې سره كفو دي اوله قريشوڅخه ماسوانورعرب په خپل منځ كې سره كف دي اوباقی عرب دقريشوكف نه دي .عجم په خپلومنځوكې سره كف دي دعربو كف نه دي لقوله ﷺ ﴿ قُرَيْشٌ بَعْضُهُمْ أَكْفَاءُ لِبَعْضٍ بَطْنٌ بِبَطْنٍ وَالْعَرَبُ بَعْضُهُمْ أَكْفَاءُ لِبَعْضٍ قَبِيلَةٌ بِقَبِيلَةٍ وَالْمَوَالِي بَعْضُهُمْ أَكْفَاءُ لِبَعْضٍ رَجُلٌ بِرَجُلٍ ﴾(قريش په خپل منځ كې يودبل كف دي ،يوبطن دهغه بل بطن سره ،اوعرب په خپل منځ كې يوله بله سره كف دي ،يوقبيله دبلې قبيلې ،اواعاجم په خپل منځ كې يوله بله سره كف دي ،يوكس دبل كس سره).

ف:په ټولو انسانانوكې ترټولوافضل بنوهاشم دي بيا قريش بيا عرب دي لقوله ﷺ ﴿ أَنَّ اللهَ اخْتَارَ مِنَ النَّاسِ الْعَرَبَ وَمِنَ الْعَرَبِ قُرَيْشًا وَاخْتَارَ مِنْهُمْ بَنِي هَاشِمٍ وَاخْتَارَنِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ ﴾ دنضربن كنانه اولادته قريش ويل كيږي اودهاشم بن

عبدمناف اولادته بنوهاشم ويل كيږي اوعرب هغه دي كوموته چې له نضربن كنانه څخه لوړكوم پلار رجامع وي له دي څخه علاوه ته عجمي ويل كيږي .

نمبر ۲.قوله وحرية اى تعتبر الكفاءة ايضامن حيث الحرية ،يعنى په ازادوالى كې كفاءت معتبردى لهذاد چاچې پلارغلام وي هغه دنسلاازادكف نه دى ولى چې غلام والى دكفراثردى په كوم كې چې دذلت معنى موجوده ده اوحريت داسلام اثردى په كوم كې چې دعزت معنى موجوده ده .

نمبر ۳.قوله واسلامااى تعتبر الكفاءة ايضامن حيث الاسلام ،يعنى په اسلام كې كفاءت معتبردى نوكه كوم څوك پخپله مسلمان وي اوبل څوك داسې وي چې پلارېې هم مسلمان وي نولومړنى دهغه بل كف نه دى ولى چې عجمي خلک داسلام په ذريعه سره يوپربل فخركوي نودچاچې پلارهم مسلمان وي نو هغه ته يوه نوعه زائده دفخرذريعه حاصله ده پرهغه باندې دچاچې پلارمسلمان نه وي .قوله وابوان فيهمااى وابوان فى الحرية والاسلام ،يعنى دچاچې پلاراونيكه مسلمان نه وي ياازادنه وي هغه دهغه كس كف نه دى كوم چې نسلاًمسلمان وي يانسلاازادوي ولى چې دنسب تكميل دپلاراونيكه دواړوپه ذكركولوسره كيږي په دي وجه په باب شهادت كې دګواه تعريف دطرفينوپه نزددپلاراونيكه دواړوپه ذكرسره حاصليږي له پلاراونيكه ماسوادكوم بل چادذكركولوضرورت نشته .البته دامام ابويوسف رحمه الله په نزددګواه اودګواه دپلاردنامه په ذكركولوسره تعريف مكمل كيږي دنيكه دنامه دذكركولو ضرورت نشته ./نمبر ۴.قوله وديانة اى تعتبر الكفاءة من حيث الديانة ،اوپه ديانت كې كفاءة معتبردى لهذا فاسق كس دصالح ښځې يادصالح دلوركف نه دى،دادشيخينومسلک دى وجه يې داده چې دين له اعلى مفاخرو څخه دى اوخلک چې ښځې ته ددى دخاوندنسب په ټيټ والى سره څومره عارورکوي له دي څخه زيات دخاوندپه فاسق والى سره عارورکوي .

ف:دامام محمد رحمه الله په نزدپه ديانت كې كفاءة معتبرنه دى ولى چې ديانت له اموراخرت څخه دى ددنيااحكام به پرده نه موقوف نه وي البته كه هغه په دومره درجه كې فاسق وو چې په عام بازاركې خلكوپه هغه پسخندواهه يادنشې په حالت كې خلكوبازارته رايستلوترڅوماشومان په هغه بازى وكړي نودادځېل انتهائي حقارت په وجه سره ديوې نيكې ښځې كف نه دى ،دشيخينوقول راجح دى لمافى البحرالرائق:فالافتاء بمافى المتون اولى فلايكون الفاسق كفوا للصالحة بنت الصالحين سواء كان معلنابالفسق اولا كمافى الذخيرة (البحرالرائق:۲/۲۳۲)

/نمبر ۵.قوله ومالااى وتعتبرالكفاءة من حيث المال ،يعنى په زوجينوكې دمال په اعتبارسره هم كفاءة معتبردى ،له مال څخه مراددادى چې خاوندپه مهراونفقه اداء كولوباندې قادروي ولى چې په نفقه سره خودرشته ازدواج قيام اودوام دى اومهردبضع عوض دى دهغه سپارل ضروري دى ،له دي څخه علاوه په غناء كې كفاءة شرط نه دى ،نوپه مهراونفقه باندې قدرت لرونكى دلويوسرمايه دارانوكف دى .

/نمبر ۶.قوله وحرفة اى وتعتبرالكفاءة من حيث الحرفة ،يعنى په كسب وكاركې هم كفاءة معتبردى ولى چې خلک په عمده اوښه كسبونوفخركوي اوپه خرابوكسبونوباندې شرميږي ،دادصاحبينومسلک دى .له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه دوه روايته منقول دي ،له امام ابويوسف رحمه الله څخه هم يوروايت داسې دى چې كفاءة معتبرنه دى الاكه كسب وكارانتهائي سپک وي .اوپه شرح الطحاوى كې مذكورده چې دمتقاربو

کسبونوښځښتنان په خپلومنځوکې سره کف دي اودمتباعدو کسبونوښځښتنان په خپلومنځوکې سره کف نه دي .

ف:فتوي پردي ده چې دمتقاربو کسبونوارباب په خپلومنځوکې سره کف دي اودمتباعدوکسبونوارباب په خپلومنځوکې سره کف نه دي لمافي الشامية:ان الحرف اذاتباعدت لايكون الرادا حدهاكفوالافرادالاخرى بل المرادكل واحداكفاء بعضهم لبعض والمادكمافي البحرانه لايلزم اتحادهمافي الحرفةبل التقارب كاف.......قال الحلواني وعليه الفتوى (ردالمحتار:٢/٣٤٩)

(**۶۱**)که کومې بالغې ښځې خپله نکاح وکړه اوله مهرمثل څخه يې لږمهرمقررکړنوداما م ابوحنيفه رحمه الله په نزداولياؤلره پردي داعتراض حق حاصل دی ترڅوچې خاوندی ددي مهرمثل پوره اداء کړي يادوئ ترمنځ دقاضي په فيصله سره تفريق وکړي .دصاحبينوپه نزداولياؤلره داعتراض حق نشته .دصاحبينودليل دادی چې ترلس درهمه پوري مهر خودشريعت حق دی اوله دي څخه زائددښځې حق دی نوښځې په مهرمثل کې په کمي کولوسره خپل حق ساقط کړی دی اوکوم څوک چې خپل حق ساقط کړي پرهغه هيڅ اعتراض نشته .داما م ابوحنيفه رحمه الله دليل دادی چې اولياء دخپل خاندان دښځو په ګرانومهرونوباندي فخرکوي اوپه کمومهرونو باندي عارمحسوسوي نوپه مهرکې کمي دعدم کفو سره مشابه ده لهذادعدم کفوپه شان دمهرد کمي په صورت کې به هم اولياؤته حق داعتراض حاصل وي .

ف: داما م ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی کمافي الشامية:(قوله دفعاللعار)اشارالى الجواب عن قولهماليس للولي الاعتراض لان مازادعلى عشرة دراهم حقهاومن اسقط عن حقه لايعترض عليه ولابي حنيفه ان الاولياء يفتخرون بغلاء المهورويتعيرون بنقصانهافاشبه الكفاءة ،بحر،والمتون على قول الامام(ردالمحتار:٢/٣٥٢)

(٦٢)وَلَوْزَوَّ جَ طِفْلَهُ غيرَ كُفءٍ اوبِغَبْنٍ فَاحِشٍ صَحَّ (٦٣)ولم يَجُزْ ذلك لِغَيرِ الأَبِ وَالجَدِّ

ترجمه :اوکه نکاح وکړه چادخپل کوچنی بچی له غيرکف سره ياپه مهرکې په غبن فاحش سره نوداصحيح ده ،اوجائزنه ده داله اب اوجدڅخه دماسوالپاره .

تشريح :(**۶۲**)که پلارپانيکه دکوچنی هلک ياکوچنی انجلۍ نکاح له غيرکف سره وکړه مثلادهلک نکاح يې له مينځې سره وکړه ياېې دانجلۍ نکاح له غلام سره وکړه ياېې په مهرکې په کمي يازياتوب سره نکاح وکړه مثلادانجلۍ نکاح يې په ډيرلږمهرسره وکړه ياېې دهلک نکاح وکړه اومهريې ډيرمقررکړنوداما م ابوحنيفه رحمه الله په نزددانکاح صحيح ده، ولی چې پلاراونيکه کامل الرأی اووافرالشفقتدي نوظاهره ده چې په مهرکې کمي يازياتوب دکوم بل منفعت لپاره ده، همداوجه ده چې که پلاراونيکه دفسق په بناء باندي داسې وکړل نوجائزنه ده.

ف:دصاحبينوانورائمه وپه نزدداجائزنه ده ولی چې په مهرکې کمي بيشي کول په مال کې کمي بيشي ده اوپه حقوق ماليه کې دکوچنيانوپه حق کې کمي بيشي جائزنه ده همداوجه ده چې دکوچنی مال په انتهائي کم قيمت سره خرڅول بالاتفاق جائزنه دي ،صاحبينوته ځواب ورکړل شوی دی چې په اخيستلوخرڅولوکې خومال مقصودوي لهذپه دي کې غبن شفقت نه دی حال داچې په نکاح کې صرف مال مقصودنه وی بلکه له مال څخه زيات نورډيرمقاصدوي په دي وجه سره باب نکاح کې په مال کې کمي بيشي دفقدان شفقت دليل نه دی .

ف: دامام صاحب قول راجح دی لمافي الهندية: ولوزوج ولده الصغير من غير كفوء بان زوج ابنه امة اوبنته عبدا اوزوج بغبن فاحش بان زوج البنت ونقص من مهرها اوزوج ابنه وزادعلى مهرامرأته يجوز عندابی حنيفة كذا في التبيين وعندهما لايجوز............ والصحيح قول ابی حنيفة كذافي المضمرات. (هنديه: ۲۹۴/۱)

ف: سيئ الاختيارپلاردصغيري نكاح په مهرمثل سره په كف كې كړي ده مګرپه دي كې دپلاردطمع اوذاتي غرض په وجه سره په صغيره باندي عدم النظرظاهراومتيقن وي مثلاپه عمركې ډيرزيات تفاوت وی يازوج دائم المرض يامعتوه ياشل وغيره وي نودانكاح نافذيږي كه يا؟په ځينوعلاقوكې داظلم عام دی په دی وجه سره په اهل فتوى باندي دي طرف ته خاص توجه كول لازم ده بنده چې تراوسه پوري پردي باندي ځومره غوركړی دی دهغه حاصل دادی چې په دي زمانه كې دغلبه فسق په وجه سره دصورت مذكوره داكثروواقعاتوحل داسې رواځي چې دسيئ الاختيارپلارتزويج بالفاسق خوباطل دی پاتې شوه شاذاونادره كومه داسې واقعه چې زوج فاسق نه وي نوصرف دامورمذكوره په بناء باندي دداسې نكاح څه حكم دی ؟نوبه فقه حنفی كې خوددي صريح حكم په نظرنه ده راغلی البته دفقه شافعی په كتاب شرح المهذب لمحمدنجيب المطيعی كې داعبارت شته قال الصميری ولايزوج ابنه الصغيربعجوزهرمة ولابمقطوعة اليدين والرجلين ولاعمياء ولازمنة ولايهودية ولانصرانية ولايزوج ابنته الصغيرة بشيخ هرم ولابمقطوع اليدين والرجلين ولابالاعمی ولاالزمن ولابفقيروهی غنية فان فعل ذالک فسخ ،وعندی انهاتحتمل وجهاآخرانه لايكون له الفسخ بانه ليس باعظم ممن زوج ابنته الصغيرة بمجذوم اوابرص (شرح المهذب: ۳۵۳/۱۵)له دي څخه ثابته شوه چې دشوافعوپه نزدپه اموربالاكې دكفاءت داعتبارروايت شته ،داحنافو له څه عباراتوڅخه هم په دي مسئلې باندي رڼا لويږي .... دشاميه اونوركتابونوله ډيروعباراتوڅخه داثابتيږي چې مشائخوكفاءت په امورمرويه عن الائمه كې منحصرنه دي ګڼلې بلكه دزمانې دحالاتواوعرف په لحاظ سره په دي كې دنورزيات غوراوفكرګنجائش شته ،نوبناء عليه دبنده رايه داده چې دعدم تناسب عمروغيره امورمذكوره په صورت كې دبطلان نكاح فتوى خودنه وركوي په دي وجه چې په دي كې دضرردوجوداوعدم وجوداوشدت اوخفت فيصله داهل الرأى دغوراوفكرمحتاج ده لهذاانجلۍ ته خياربلوغ بايدوركړل شي اوهغه دي دخياربلوغ دشرائطو معهوده مطابق په عدالت كې مقدمه پيش كړي حاكم دي به اهل الرای سره دحالاتوتحقيق وكړي كه يې مناسبه وګڼله نونكاح دي فسخ كړي. والله تعالى اعلم (احسن الفتاوى: ۱۲۳/۵)

(۶۳)اوكه له پلاراونيكه څخه ماسواكوم بل ولی دهلک ياانجلۍ نكاح په غيركف كې وكړه يايې په مهركې ډيركمبوت يازيادت وكړ نودابالاتفاق جائزنه ده ولی چې له پلاراونيكه څخه ماسواپه نورقريبانوكې هغه شفقت نشته كوم چې پلاراونيكه كې دی لهذادنقصان شفقت په وجه سره دغبن فاحش په صورت كې دانكاح جائزنه ګڼل كيږي.

فَصلٌ فِي الوَكَالَةِ بِالنِّكَاحِ وَغَيرِهَا

دافصل دنكاح دوكالت وغيره په بيان كې دی

څرنګه چې وکالت هم يو قسم ولايت دی ولی لکه څرنګه چې دولی تصرف په مولی عليه باندی نافذيږي همدا شان دوکيل تصرف هم پرموکل باندي نافذيږي په دي وجه سره مصنف رحمه الله له ولايت او کفالت څخه وروسته وکالت فی النکاح ذکر کړی دی .

(۶۴) لِابْنِ الْعَمِّ أَنْ يُزَوِّجَ بِنْتَ عَمِّهِ مِنْ نَفْسِهِ (۶۵) وَلِلْوَكِيلِ أَنْ يُزَوِّجَ مُوَكِّلَتَهُ مِنْ نَفْسِهِ (۶۶) وَنِكَاحُ الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ بِغَيْرِ إِذْنِ السَّيِّدِ مَوْقُوفٌ (۶۷) كَنِكَاحِ الْفُضُولِيِّ (۶۸) وَلَا يَتَوَقَّفُ شَطْرُ الْعَقْدِ عَلَى قَبُولِ نَاكِحٍ غَائِبٍ (۶۹) وَالْمَأْمُورُ بِنِكَاحِ امْرَأَةٍ فَخَالَفَ بِامْرَأَتَيْنِ (۷۰) لَا بِأَمَةٍ

ترجمه: جائزده داکازوی لره داچې هغه نکاح وکړي دخپل اکا دلورله خپل ځان سره ،او جائزده وکيل لره داچې هغه نکاح وکړي دخپلې موکلې له خپل ځان سره ،او دغلام او مينځې نکاح دمولی له اجازي څخه بغير موقوفه ده ،لکه دفضولی نکاح ،او موقوف نشې پاتې کيدلی نصف عقد دغائب نکاح کونکې ترقبولولوپوري ،او له يوي ښځې سره دنکاح کولو مامور مخالفت کونکی شمارل کيږي دوو ښځوپه نکاح کولو سره ،نه له مينځې سره .

تشريح: (۶۴) قوله لابن العم ان يزوج ای يجوز لابن العم ان يزوج ،صورت دمسئلې دادی چې که دانجلۍ ولی ددي داکازوی وو په دي شرط چې انجلۍ بالغه نه وي او ددي داکاله زوی څخه ماسوا ددي کوم اقرب ولی نه وي نو ددي اکادزوی له دي انجلۍ سره خپله نکاح کول جائزده مثلا ګواهانوته يې وويل چې تاسې ګواه اوسئ چې ماخپله نکاح له فلانکۍ انجلۍ سره وکړه کومه چې دفلان بن فلان لورده په دي صورت کې دقبول ضرورت نشته ولی چې داکادزوی عبارت دايجاب او قبول دواړوقائم مقام دی ،او که انجلۍ بالغه وي نو بيا ددي صورت دادی چې هغه خپل دااکازوی دنکاح کولو وکيل جوړ کړي .

ف: دامام شافعی او امام زفر رحمهما الله تعالی په نزد جائزنه ده ولی چې يو کس ديوه شي په يوه وخت کې مملک او متملک (يعنی مالک جوړونکی او ملک حاصلونکی)نشې جوړيدلی .زموږ دليل دادی چې په نکاح کې وکيل محض تعبير کونکی او سفيروي او په مملک او متملک کې منافات په حقوقو کې دی په تعبير کې نشته يعنی داصحيح دی چې يو کس دښځې له طرفه دمالک جوړولو الفاظ وايي او له خپله طرفه دمالک جوړيدلو الفاظ وايي او دلته همداکيږي چې داکازوی دانجلۍ له طرفه دمالک جوړولو الفاظ وايي او له خپله طرفه دمالک جوړيدلو الفاظ وايي همداشان په راتلونکې مسئله کې هم دي.

(۶۵) قوله وللوکيل ان يزوج موکلته ای يجوز للوکيل ان يزوج موکلته ،يعنی که کومې ښځې کوم کس له خپل ځان سره دنکاح کولو وکيل جوړ کړ او هغه ددوو ګواهانوپه مخ کې دموکلې نکاح له خپل ځان سره وکړه مثلا ويې ويل چې تاسې ګواه اوسئ چې ماخپله نکاح له فلانکۍ انجلۍ سره وکړه کومه چې دفلان بن فلان لورده نو دا جائزده لما قلنا.

ف: مګر داپه دي صورت کې ده چې انجلۍ دی له خپل ځان سره دنکاح کولو وکيل جوړ کړی وي او که انجلۍ ده ته داسې وويل چې له کوم کس سره زمانکاح راوکړه نو دوکيل لپاره دا جائزنه ده چې دهغې نکاح له خپل ځان سره وکړي .

(۶۶) دغلام او مينځې نکاح دمولی له اجازي څخه بغير موقوفه ده که مولی اجازه ورکړه نو نکاح صحيح کيږي که نه نو نه صحيح کيږي لقوله ﷺ ﴿أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُ فَهُوَ عَاهِرٌ﴾ (يعنی کوم غلام چې دمولی

له اجازي څخه بغيرنكاح وكړي نوهغه زاني دی)همدارازدغلام اومينځي نكاح ددوئ په حق كې عيب شمارل كيږي لهذادمولی له اجازي څخه بغيرهغه ددي نفاذمالک نه دی .

(۶۷)قوله كنكاح الفضولي اى كمايتوقف نكاح الفضولي على الاجازة .يعنى كه كوم فضولی كس (فضولی په معنی دمالايعنی كې مشغول كيدل،دفقهاؤپه اصطلاح كې فضولی هغه كس دی چې نه اصيل،نه وكيل اونه وصی وي بلكه يوپردی كس دچاپه حق كې له شرعی اجازي بغيرتصرف وكړي)دكوم كس نكاح له كومې ښځې سره وكړي دهغه داجازي بغيرنوداهم دغلام اومينځي دمولی له اجازي څخه بغيردنكاح كولوپه شان موقوفه ده كه هغه په خبرېدلوسره اجازه وركړه نودانكاح نافذيږي كه نه نو باطله ده ولی چې دغيرپه حق كې تصرف دی لهذادهغه له اجازي بغيرنه نافذيږي .

(۶۸)دعقدنكاح نصف حصه يعني ايجابْ دهغه كس په قبولولوپسې نشې موقوف كيدلی كوم چې له مجلس څخه غائب وي مثلا ښځې ددووگواهانوپه مخ كې دكوم غائب كس په باره كې وويل چې ماله ده سره نكاح وكړه ،يانارينه دگواهانوپه مخ كې وويل چې ماله فلانكۍ غائبې ښځې سره نكاح وكړه ،نوددوئ داايجاب دهغه بل تر راتلوپوري موقوف نه پاتې كيږي چې هغه راشي اوصرف قبول وكړي اوعقدپوره شي بلكه دهغه له راتلو څخه وروسته به له سره نوی عقدكوي .

(۶۹)كه كوم كس څوک وكيل جوړكړچې زماله يوي ښځې سره نكاح وكړه وكيل په عقدواحد كې له دوو ښځوسره دده نكاح وكړه نودی دموكل دامرمخالفت كونكی شمارل كيږي لهذاله دي دواړو څخه ديوي نكاح هم په موكل باندي لازمه نه ده ولی چې ددواړودنكاح په لازمولوكې دموكل دامرمخالفت راځي اودكومې يوې غيرمعينې دنكاح په لازمولوكې دنكاح هيڅ فائده نشته ځكه چې دا صورت حلت وطی ته مفيدنه دی اوكه يوه متعينه كړي نوداهم جائزنه ده ولی چې په دي صورت كې ترجيح بلامرجح راځي .

(۷۰)قوله لابامة اى لايكون المامور بالنكاح مخالفابتزويجه الامة .يعنی په مذكوره بالاصورت كې كه وكيل دموكل نكاح له مينځې سره وكړه نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددانكاح جائزده په دي شرط چې وكيل له خپلې مينځې سره نكاح نه وي وركړي ولی چې موكل لفظ دامراة ذكركړی دی كوم چې ازادي اومينځې دواړوته شامل دی او څه تهمت هم نشته ځكه چې مينځه دوكيل نه ده دغيرده .

ف:حال داچې دصاحبينوپه نزددا صورت هم جائزنه دی مگرداچې په كف كې نكاح وروكړي ولی چې توكيل مطلق دی اومطلق متعارف ته راجع كيږي ومتعارف په كف كې نكاح كول دي نه په غيركف كې . دصاحبينوقول راجح دی لمافی الدرالمختار:(امره بتزويج امراة فزوجه امة جاز) وقالالايجوز وهواستحسان ملتقی بنعااللهداية وفی شرح الطحاوی وقولهمااحسن للفتوی واختاره ابوالليث (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: ۲/ ۳۵۲)

بَابُ الْمَهْرِ

داباب دمهرپه بيان كې دی

کله چې مصنف رحمه الله له رکن نکاح ،شرط نکاح اودبمعنی الشرط (یعنی کفاءت)له بیان څخه فارغ شونواوس دمهر احکام بیانوي ولی چې دمهرموجب عقدنکاح دی نومهردعقدنکاح حکم شواوحکم دشي له شي څخه وروسته وي. اومهرهغه مال ته ویل کیږي چې ښځه دعقدنکاح یاوطی بشبه په وجه سره دهغه مستحقه ګرځي .مهرته صداق ،نحله، اجر،فریضه ،علیقه ،اوعقرهم ویل کیږي .

(۷۱)صَحَّ النِّكَاحُ بِلَا ذِكْرِهِ (۷۲)فَإِنْ سَمَّاهَا أَوْ دُونَهَا فَلَهَا عَشَرَةٌ بِالْوَطْءِ أَوِ الْمَوْتِ (۷۳)وَبِالطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُولِ تَتَنَصَّفُ (۷۴)وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِ أَوْ نَفَاهُ فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا (۷۵)وَالْمُتْعَةُ إِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الْوَطْءِ (۷۶)وَهِيَ دِرْعٌ وَخِمَارٌ وَمِلْحَفَةٌ

ترجمه :صحیح ده نکاح بلاذکرمهر ،اولږترلږه مهرلس درهمه دی ،نوکه یې مهرلس درهمه یاله دې څخه لږمقررکونوښځې لره لس درهمه دي دوطی یامرګ یاخلوة په صورت کې ،اودطلاق قبل الوطی په صورت کې مهرنیمایې پاتې کیږي ،اوکه یې مقررنه کومهریایې نفی کونوښځې لره به مهرمثل وي که خاوندوطی وکړه یامړشو ،اومتعه ده کې ده طلاق ورکړ مخکې تروطی کولو ،اوهغه قیمص ،اوپړونی اوڅادرده .

تشریح :(۷۱)په نکاح کې یې مهرمقررکړنوداصحیح ده اوکه یې دمهرله مقررکولو څخه بغیرنکاح وکړه نوداهم صحیح ده ولی چې دالله تعالی ارشاد﴿ فانكحواماطاب الخ ﴾کې دنکاح ذکردی اوپه لغت کې نکاح انضمام اوازدواج ته ویل کیږي اودامعنی په متناکحینوسره پوره کیږي نوکه موږدمهرشرط ولګاوو نوپرنص به زیادت راشي کوم چې صحیح نه ده .البته مهرشرعاًواجب دی لیکن داوجوب دصحت نکاح لپاره نه دی بلکه دشرافت محل (یعنی شرافت بضع)دظاهره کولولپاره دی لهذادصحت نکاح لپاره دمهردذکرکولوضرورت نشته .

(۷۲)دمهراقل مقداردااحنافوپه نزدلږترلږه لس درهمه دی یاهغه شي چې دهغه قیمت دعقدپه وخت کې لس درهمه وي لقوله ﷺ﴿ لَا مَهْرَ أَقَلَّ من عَشَرَةِ دَرَاهِمَ ﴾(له لسودرهمو څخه کم مهرنشته)، همدارنګ مهردشریعت حق دی دبضع دشرافت دظاهره کولولپاره لهذادومره مقداربه متعینوي چې په هغه سره شرافت بضع ظاهره شي نوموږولیدل چې دسرقې نصاب لس درهمه دی چنانچه په لس درهمه غلاکولوباندی لاس پري کیږي نومعلومه شوه چې دانسان دعضویعنی لاس لږترلږه قیمت لس درهمه دی نوپه همدې په قیاسولوسره په نکاح کې هم دملک بضع قیمت کم ازکم لس درهمه مقررکړل شو .

ف:دامام شافعی اوامام احمد رحمهماالله تعالی په نزدهرهغه شی کوم چې په بیع کې ثمن جوړیدلی شي هغه په عقدنکاح کې مهرجوړیدلی شي لحدیث جابر ﷺ﴿ انه ﷺ من أَعْطَى في صَدَاقِ امْرَأَةٍ مِلْءَ كَفَّيْهِ سَوِيقًا او تمرا فقد استحل ﴾(یعنی چاچې دښځې په مهرکې یوموټ ستواداءکړل یایې خرماوي اداءکړي نوده دابنځه خپل ځان ته حلاله کړه).احناف ځواب ورکوي چې داروایت خویاپرمهرمعجل محمول دی اویانبی کریم ﷺ دمتعه په باره کې فرمایلې دي اومتعه منسوخه ده لهذاداهم منسوخ دی .

دمهر فاطمي بيان

ف:دنبی کریم ﷺ دصاحاوادی حضرت فاطمه رضی الله عنها مهرپنځه سوه درهمه وو ....دموجوده اوزانوپه اعتبارسره مفتی محمدشفیع صاحب رحمه الله د۱۳۱تولې او۳ماشوسپینوزروسره برابرکړی دی ....کوم چې گرام دموجوده پیمانې په لحاظ سره له یوکلو۵۳۰گرامه اونهه سوه ملی گرامو(۱۰۵۳۰.۹۰۰)سره برابريږي .داهم بايدپه خيال کې وي چې نن صباد۱۲گراموتوله مروجه نه ده بلکه دلس گرامه تولې په حساب سره دسپينواوسروزروخريداوفروخت کيږي ،په دي لحاظ سره مهرفاطمی تقريبا۱۵۴تولې سپين زرکيږي .(جديدفقهی مسائل:۲۸۶/۱)

(۷۳)که دکومې ښځې لپاره مهرلس درهمه مقررشويااخاوندله دي سره وطی وکړه يايې خلوة صحيحه وکړياله دواړوڅخه يومړشونودښځې مهربه لس درهمه وي ولی چې لس درهمه دمهرکيدلو لپاره صالح دي اوپه اولنيودوو صورتونوکې مبدل يعنی دبضع سپارل متحقق شوي دي اودمبدل په سپارلوسره بدل واجبيږي لهذااوس لس درهمه واجب دي .اوپه دريم صورت کې هم لس درهمه واجب دي ولی چې دمرگ په سبب سره شی خپلې انتهاء ته رسيږي اوشی چې کله خپلې انتهاء ته ورسيږي نوله خپلوټولواحکامواو مواجبوسره متقرراو موکدکيږي اودنکاح په احکاموکې مهرهم دی لهذادمرگ په وجه سره داهم ثابتيږي .همداشان که يې له لس درهمه څخه کم مقررکړنوکه خاوندقبل الدخول مړشو يايې دخول وکړيايې خلوة صحيحه وکړنوپه دي صورتونوکې به هم مهرلس درهمه وي ولی چې ترلس درهمه کم مقررکول دحق شرع په وجه سره فاسددي اوحق دشرع په لس درهمه پوره کيږي لهذالس درهمه به پوره کيږي دزيادت ضرورت نشته .

(۷۴)وکه دلس ياترلس درهمه دکم مهرمقررکولوپه صورت کې قبل الوطی خاوندطلاق ورکړنواوس به مهردلس درهمو نصف يعنی پنځه درهمه وي ولی چې ټول مهرلس درهمه وو اودطلاق قبل الدخول په صورت کې نصف مهرلازميږي اودلسونصف پنځه دي لهذاپنځه درهمه به ورکوي .

الغاز: ای امرأة اخذت ثلاثة مهور من ثلاثة ازواج فی يوم واحد؟

قل: امرأة حامل طلقت ثم وضعت فلها كمال المهر ثم تزوجت وطلقت قبل الدخول ثم تزوجت فمات من يومه فاستحقت كمال المهر.(الاشباه والنظائر)

(۷۵)که چاله يوې ښځې سره نکاح وکړه مگرددي لپاره يې دمهرهيڅ ذکرونه کړيايې داشرط ولگاوو چې دي لره به هيڅ مهرنه وي نواوس که خاوندپه دي دخول وکړياقبل الدخول احدالزوجين مړشونوښځې لره به مهرمثل وي ولی چې حضرت علقمه نقل کوي چې له حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه پوښتنه وشوه ،چې کوم کس له کومې ښځې سره نکاح وکړي بياله دخول څخه وړاندي وفات شي حال داچې ښځې لره يې مهرنه وي مقرکړی ،حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وفرمايل:چې زمارأيه داده چې دي لره به مهرمثل وي ،پردي حضرت معقل بن سنان اشجعی رضی الله عنه ولاړشواوويې ويل زه گواهی ورکوم چې نبی کريم ﷺ دبروه بنت واشق لپاره همداحکم فرمايلی وو کوم چې تاوفرمايو .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد دنفس عقد په وجه سره هيڅ نه واجبيږي داابتداء دهغه نفی كولی شي لكه څرنګه چې انتهاء دي ته حق اسقاط حاصل دی .احناف وايې چې مهرابتداء دشريعت حق دی اوانتهاء دښځې حق دی لهذا ښځه ابتداء دمهر نفی نشي كولی هوبقاءً اً دابرأ (خاوندله مهرڅخه بری كول) حق لري.

(۷۶)قوله والمتعة ای وتجب المتعة ان طلقهاالخ .يعني كه په مذكوره بالادووصورتونو (په كوم كې چې مهرمقررنه وي ياپې دمهرنفی كړې وي)كې خاوندښځې ته له دخول اوخلوة څخه وړاندې طلاق وركړ نوښځې لره به متعه واجبه وي ولی چې د الله تعالی له قول﴿ مَتِّعُوهُنَّ ﴾(متعه وركړې دوئ ته)څخه همدامتعه مراد ده اوامردوجوب لپاره وي لهذا متعه واجبه ده.

(۷۷)متعه دري جامې دي قيمص ،پړونی په كوم چې سرپټوي ،اوڅادركوم چې له سرڅخه بياترپښوپوري وي همداله حضرت عائشې رضي الله عنها اوحضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه مروی ده.

ف:اوداجامې دهغې درجې وي كومه چې دداي ښځې په شان ښځې يې په تن كوي ليكن دومره به ګرانه نه وي چې له نصف مهرمثل څخه زائدي شي ولی چې متعه دمهرمثل خليفه ده اونصف مسمی اقوی ده بيا هم پرهغه اضافه نشي كيدای نوپه متعه كې به په طريقه اولی سره په نصف مهرمثل اضافه نه وي . اونه به دومره ارزانه وي چې له پنځودرهمو څخه كم وي ولی چې لږترلږه مهرلس درهمه دی دكوم چې نصف پنځه درهمه دي.

(۷۸)ومافرض بعدالعقداوزيدلايتنصف (۷۹)وصح حطها (۸۰)والخلوة بلامرض أحدهما وحيض ونفاس واحرام وصوم فرض كالوطء ولو مجبوبااوعنينا اوخصيا (۸۱)وتجب العدة فيها (۸۲)وتستحب المتعة لكل مطلقة الا للمفوضة قبل الوطء

ترجمه :اوكوم شی چې مقرركړل شي له عقدڅخه وروسته يازائدكړای شي نو دهغه تنصيف به نه كيږي ، اوصحيح دی د ښځې مهركمول ،اوخلوة له مرض ،حيض ،احرام اوصوم فرض څخه بغيردوطی په شان دی كه څه هم مقطوع الذكروي ،يانامردوي ياخصی وي ،اوواجب دی عدة په دوئ كې ،اومستحبه ده متعه هري مطلقې لره مګرمفوضې ته له وطی څخه وړاندي .

تشريح :(۷۸)كه يې له عقدنكاح څخه وروسته مهرمقرركړياله عقدنكاح څخه وروسته په مقرره مهركې خاوندزيادت وكړيا خاوندقبل الدخول طلاق وركړنو دطرفينوپه نزدبه ددي زائدمهرتنصيف نه كول كيږي بلكه په اول صورت كې به متعه وركول كيږي اوپه دوهم صورت كې به بوقت عقدچې كوم مهرمقررشوی وو دهغه نصف وركول كيږي حال داچې دامام ابويوسف رحمه الله په نزدله اصل مهرسره به ددي زيادت تنصيف هم كول كيږي ولی چې دده په نزدمفروض بعدالعقدداسې دی لكه مفروض في حالة العقد.دطرفينوپه نزدتنصيف په حالت عقدكې له مقررشوي سره خاص دی لهذاله حالت عقدوروسته چې كومه اضافه شوي ده دهغې تنصيف بدنه كيږي .

ف:دطرفينوقول راجح دی :لمافي الشامية :(ويجب نصفه)ای نصف المهرالمذكوروهوالعشرة ان سماها اودونهاوالاكثر منهاان سماهاوالمتبادرالتسمية وقت العقدفخرج مافرض اوزيدبعدالعقدفانه لايتنصف كالمتعة(ردالمحتار:۲/ ۳٦٠)

(۷۹)دعقدنكاح پروخت چې كوم مهرمقررشوی دی كه ښځې له خپل دي مهرمقررڅخه څه كم كويايې ټول مهردزوج له ذمې څخه ساقط كونوداصحيح ده ولی چې مهربقاء دښځې حق دی اوداكمی

ښځې دبقاء په دوران کې کړې ده او هرچاته په خپل خالص حق کې دتصرف کولو حق حاصل دی لهذا ښځې ته به هم داحق حاصل وي چې داله خپل مهرڅخه څه کم کړي یاټول ساقط کړي .

ف:که کوم کس له وطی کولوڅخه وروسته ښځې ته طلاق ورکړي نوبوقت عقدچې کوم مهرمقررشوي وو هغه به مطلقې ته ورکوي اوکه يې له وطی څخه وړاندې طلاق ورکړنونصف مهربه ورکوي .

(۸۰)دخلوة معنی ده په تنهائي کې دزوجينويوځای کيدل ،بياخلوة پردوه قسمه دی خلوت صحيحه ،خلوت غيرصحيحه ، خلوت صحيحه هغه دی چې له جماع څخه هيڅ قسم مانع موجودنه وي . مصنف رحمه الله څلورموانع ذکرکړي دي (۱)له زوجينوڅخه کوم يودومره ناروغ وي چې دجماع قابل نه وي نوپه داسې صورت کې که زوجين په تنهائي کې سره يوځای شې نوداخلوت صحيحه نه دی. (۲)ښځه دحيض يانفاس په حالت کې وي نوپه داسې صورت کې دزوجينويوځای کيدل خلوت صحيحه نه دی (۳)له زوجينوڅخه کوم يوه دحج فرض يانفل ياعمري احرام تړلی وي نوپه داسې صورت کې هم خلوت صحيحه نه دی(۴)له زوجينوڅخه کوم يوه درمضان روژه نيولې وي نوبياهم په تنهائي کې ددوئ يوځای کيدل خلوة صحيحه نه دی .اوخلوت غيرصحيحه هغه دی چې له جماع څخه کوم مانع موجودوي .

نوکه زوجينوخلوت صحيحه وکويعنی له مذکوره بالاموانعوڅخه بغيرزوجينوپه تنهائي کې ملاقات وکړنوداوطی په حکم کې ده لهذااوس که خاوندطلاق ورکړنوپوره مهربه ورکوي که څه هم زوج مجبوب (دکوم نارينه چې عضوتناسل له بيخه څخه پرې وي هغه ته مجبوب ويل کيږ)ياعنين (عنين هغه نارينه ته ويل کيږي دچاچې عضوتناسل موجودوي ليکن هغه له ښځې سره په جنسي تعلق باندي قدرت نه لري)ياخصی(خصی هغه کس ته ويل کيږي دچاچې دخايوګردې ايستل شوي وي)وي .دپوره مهروركولووجه داده چې ښځې دموانعوپه رفع کولوسره مبدل (يعنی منافع بضع)خاوندته حواله کړي اودښځې په قدرت کې همدومره وو.لهذادښځې حق په بدل (يعنی مهر)کې ثابتيږي .

ف:البته دزوج دمجبوب والی په صورت کې دصاحبينوپه نزدښځې لره نصف مهردی ولی چې مقطوع الذکر د مريض په نسبت ډيرعاجزدی ځکه چې مريض کله ناکله پرجماع قادرکيدی شي ليکن مقطوع الذکرپرجماع بالکل قدرت نه لري لهذاداخلوت صحيحه نه دی نودطلاق قبل الدخول په وجه سره به دښځې لپاره نصف مهروي.

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی لماقال المفتی غلام قادر النعمانی فی القول الراجح:ان القول الراجح هو قول ابی حنيفة ....قال فی الهندية وخلوة المجبوب صحيحة عندابی حنيفة وخلوة العنين والخصی خلوة صحيحة كذافی الذخيرة (القول الراجح:۱/۲۷۱)

(۸۱)اودپورته ذکرشويوموانعوپه شتون کې دخاوندله ښځې سره دخلوت کولوپه صورت کې که خاوندطلاق ورکړنواحتياطاپرښځه باندي عدة واجبه ده ولی چې دعلوق توهم موجوددی بياخواه که خلوة صحيحه وي که غيرصحيحه،البته دخلوة غيرصحيحه په صورت کې مهرواجب نه دی ولی چې مهرمال دی دکوم په ايجاب کې چې احتياط مناسب نه دی .

ف:خلوة صحيحه په څوځايونوكې دوطی په حكم كې دی .(۱)دښځې پوره مهرواجبيږي .(۲)كه ددې ښځې بچی پيداشي نوله دې خاوند څخه به ثابت النسب وي .(۳)دطلاق وغيره په صورت كې پرښځې باندې عدة واجبه ده .(۴)دښځې نفقه اوسكنی واجبه ده .(۵)دعدة په دوران كې ددې ښځې له خوريا له څلورمې ښځې سره نكاح كول جائزنه ده .(۶)له مينځې سره نكاح جائزه نه ده .(۷)په طلاق وركولوكې به ددې په حق كې هم دطلاق دوخت درعايت كولوحكم دی .څوځايونه داسې دي چې په هغوكې خلوة دوطی په حكم كې نه دی .(۱)دخلوة په وجه سره دابنځه محصنه نه شمارل كيږي لهذا دزناكولوپه صورت كې پردې ښځې باندې دشادی شده حدنه جاري كيږي .(۲)ددې ښځې له لورسره نكاح كول حرامه نه ده .(۳)له دې څخه وړاندې خاونددې ته درې طلاقه وركړي وو نومحض دخلوة په وجه سره دااول خاوندته نه حلاليږي . (۴)له طلاق رجعی څخه وروسته رجعت كيږي خلوة رجعت نه شمارل كيږي (۵)دخلوة په عدة كې كه خاوندوفات شونوښځه به ميراث مستحقه نه وي .(۶)لمونځ ،روژه ،احرام ، اعتكاف ،وغيره عبادتونه په خلوة سره نه فاسديږي.

(۸۲)دطلاق په وجه سره دپيداشوی وحشت ددفع كولولپاره هري مطلقې ته متعه وركول مستحب ده مگرمفوضې (مفوضه هغه ښځه ده كومې چې خپل ځان خاوندته سپارلی وي اوددې نكاح بغيردمهرله متعين كولوشوې وي)ته كه خاوندقبل الدخول طلاق وركړنوددې لپاره متعه مستحبه نه ده بلكه واجبه ده لقوله تعالى﴿ و مَتِّعُوهُنَّ على الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ ﴾(اودوئ ته څه خرچه وركړئ په قدرت والاباندې دهغه موافق ده اوپرتنگې والاباندې دهغه موافق)، متعوهن ،دامرصيغه ده اوامردوجوب لپاره وي ،همدارزدې لره متعه په دې وجه هم واجبه ده چې دامتعه دنصف مهرمثل بدل ده كمامر.

ف:مطلقه پرڅلورقسمه ده .(۱)مطلقه غيرمدخول بهاوي اوددې لپاره مهرهم نه وي مقررشوی دامذكوره بالاصورت دی په كوم كې چې دښځې لپاره متعه واجب ده .(۲)مطلقه غيرمدخول بهاوي اوددې لپاره مهرمقررشوی وي ددې لپاره دمتعې استحباب مختلف فيه دی شوافع دوجوب قائل دي اواحناف داستحباب .(۳)مطلقه مدخول بهاوي ليكن دې لره مهرمقررنه وي .(۴)مطلقه مدخول بهاوي اودې لره مهرهم مقرروي ددې دواړوقسمونوته متعه مستحب ده لقوله تعالى ﴿ وللمطلقات متاع بالمعروف ﴾ (يعنی مطلقه ښځولره متعه شته دشرعی دستورمطابق).

(۸۳)وَيَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ فِي الشِّغَارِ (۸۴)وَخِدْمَةِ زَوْجٍ حُرٍّ لِلْإِمْهَارِ وَتَعْلِيمِ الْقُرْآنِ (۸۵)وَلَهَا خِدْمَتُهُ لَوْ عَبْدًا

ترجمه :اوواجب دی مهرمثل په نكاح شغاركې ،اودازادخاونددخدمت په صورت كې دمهرپه وجه اودتعليم قران په صورت كې ،اوښځې لره خدمت دی كه خاوندغلام وو .

تشريح :(۸۳)شغار،له بلدة شاغرة ،په معنی دبلدة خالية څخه دی ،په اصطلاح كې شغاردادی چې كوم كس دخپلې لوريا خورنكاح له بل سره په دې شرط وكړي چې هغه بل به دخپلې لوريا خورنكاح له ده سره كوي په كوم كې چې احدالعقدين دهغه بل عوض وگرځول شي داسې نكاح ته دنكاح شغارويلوجه داده چې داهم له مهرڅخه خالی وي ،په اردوكې دي ته ،وټه سټه ويل كيږي .داحنافوپه نزدادشرط فاسدی په ښځوكې دهري يوې لپاره مهرمثل دی ولی چې داسې شی يې مهرجوړكړی دی كوم چې دمهر

جوړيدلوصلاحيت نه لري او قاعده ده چې کوم شی دمهرجوړيدلوصلاحيت نه لري که هغه مهرجوړکړای شي نوعقدنکاح صحيح دی او مهرمثل به واجب وي .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزدنکاح شغارباطله ده لقوله ﷺ ﴿ لا شِغَارَ في الإسْلَامِ ﴾(يعنی دنکاح شغارهيڅ ګنجائش په اسلام کې نشته).امام شافعي رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې دحديث شريف مطلب دادی چې دجاهليت دعادت مطابق نکاح له تسميه مهرڅخه دخالي پريښودولوګنجائش نشته ،له عين نکاح څخه منع کول مقصودنه دي ،يادا حديث په کراهت محمول دی .

(۸۴)قوله وخدمة زوج حر ای يجب مهر المثل في التزويج علی خدمة زوج حر ،يعني که کوم ازادکس له کومې ښځې سره نکاح وکړه او ښځې ته يې وويل چې تريوه کال پورې به زه ستاخدمت کوم همدا ستامهردی ، اويابه زه تاته دقرآن مجيدتعليم درکوم همدا ستامهردی نونکاح جائزده او ښځې لره مهرمثل دی ولی چې دازادانسان خدمت اوتعليم قران منافع دي مال نه دی حال داچې په عقدنکاح کې ابتغاء بالمال (دمال په ذريعه سره طلب کول)مشروع دي لقوله تعالی﴿وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ ﴾(اوحلال دي تاسې لره ټولې ښځې له دې ماسواپه دې شرط چې طلب کړی دوئ دخپلومالونوپه بدله کې).

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزددازادانسان خدمت اوتعليم قران په نکاح کې مهرجوړول صحيح دي ولی چې نکاح عقدمعاوضه دی لهذاکوم شی چې معوض جوړيدی شي هغه په عقدنکاح کې عوض هم جوړيدی شي ترڅودمعاوضې معنی متحققه شي اوڅرنګه چې خدمت اوتعليم قران دواړه معوض دي يعنی ددوئ عوض اخيستل کيږي لهذادوئ دواړه عوض يعنی په نکاح کې مهرهم جوړيدی شي ، نو دادواسې شوه لکه چې دبل ازادکس خدمت مهرجوړکړای شي .

(۸۵)که غلام دخپل مولی په اجازت سره له ازادې ښځې سره نکاح وکړه اومهريې يوکال خدمت مقررکړنوداجائزده چې ښځه دخپل مهرپه طورله ده څخه يوکال خدمت واخلي ولی چې دغلام خدمت مال دی ولی چې داتسليم رقبې ته متضمن دی لهذاداسې خدمت بطورمهرمقررکول صحيح دی.

(۸۶)وَلَوْ قَبَضَتْ أَلْفَ الْمَهْرِ وَوَهَبَتْ لَهُ فَطَلَّقَتْ قَبْلَ الْوَطْءِ رَجَعَ عَلَيْهَا بِالنِّصْفِ(۸۷)فَإِنْ لَمْ تَقْبِضِ الْأَلْفَ(۸۸)أَوْ قَبَضَتِ النِّصْفَ وَوَهَبَتِ الْأَلْفَ (۸۹)أَوْ وَهَبَتِ الْعَرْضَ الْمَهْرَ قَبْلَ الْقَبْضِ أَوْ بَعْدَهُ فَطَلَّقَتْ قَبْلَ الْوَطْءِ لَمْ يَرْجِعْ عَلَيْهَا بِشَيْءٍ

ترجمه:اوکه ښځې قبض کړي دمهرزردرهمه اوهبه يې کړي خاوندته بيادا طلاقه شوه له وطی څخه وړاندې نوخاوندبه رجوع کوي په ښځې باندې دنصف مهرپه باره کې ،اوکه ښځې قبضه نه وي کړې په زرو ،يايې قبضه کړې وي پرنصف اوهبه کړي يې وي زريا باقی مانده ،يايې هبه کړدمهرسامان له قبضې څخه وړاندې ياله قبضې څخه وروسته بيادا طلاقه شوه له وطی څخه وړاندې نورجوع به نه کوي خاوندپردې دهيڅ شی په باره کې .

تشريح :(۸۶)که چاله ښځې سره په يوزردرهمه باندې نکاح وکړه او ښځې په دې يوزردرهمه باندې قبضه وکړه بيايې واپس خاوندته دايوزردرهمه هبه کړل بياخاوندقبل الدخول دې ته طلاق ورکړ نواوس به خاوندپنځه سوه درهمه له ښځې څخه بيرته اخلی ولی چې خاونددطلاق قبل الدخول په وجه سره دښځې په قبض کړي مهرکې دنصف مستحق دی اودښځې په هبه کولوسره دخاوندطرف ته بعينه هغه نه دي رسيدلې

دکوموچې خاوندمستحق شوی دی ولی چې زموږپه نږددراهم اودنانیرپه عقوداوفسوخو کې په متعین کولوسره نه متعین کیږي نوګویاښځې له مقبوض مهرڅخه علاوه نور مال خاوندته هبه کړی دی لهذاخاوندلره دښځې له طرف څخه دهبه شوی ماسواله ښځې څخه دمزیدنصف مهر داخیستلو حق حاصل دی.

(۸۷)اوکه ښځې بغیرله قبض کولودازر درهمه هبه کړل یاخاوندقبل الدخول طلاق ورکړنوپه زوجینو کې به استحسانا یوهم په هغه بل باندي د هیڅ شي رجوع نه کوي که څه هم دقیاس تقاضاخوداده چې خاونددنصف مهرپه باره کې رجوع وکړي ولی چې ښځې بلاقبضه له ټول مهرڅخه خاوندبری کړنوخاوندته چې کوم یوزرسالم پاتې شول دایوزرله هغه څخه غیردي دکوم چې خاوندقبل الدخول طلاق په وجه سره مستحق شوی دی یعنی له نصف مهرڅخه بری کیدل لهذاښځه به له دي نصف مهرخاوندته له اداء کولوڅخه بری نه وي .داستحسان وجه داده چې کله ښځې خاوندله ټو ل مهرڅخه بری کړ نوخاوندته بعینه هغه ورسیدل دکوم چې هغه دطلاق قبل الدخول په وجه سره مستحق شوی وو ولی چې په طلاق قبل الدخول سره خاوندله نصف مهرڅخه بری ذمه کیږي نوکله چې ښځې دی له ټول مهرڅخه بری الذمه کونوله نصف مهرڅخه په طریقه اولی سره بری الذمه شو.

(۸۸)اوکه ښځې له ټول مهریعنی زردرهمه څخه په پنځه سوه درهمه قبضه وکړه اوبیایې خاوندته یوزرمقبوض اوغیرمقبوض دواړه هبه کړل یایې صرف غیرمقبوض هبه کواوخاوندقبل الدخول طلاق ورکړنوپه زوجینوکې به یوه لره هم په هغه بل باندي درجوع حق نه وي ولی چې دخاوندمقصود بلاعوض نصف مهرله خپل ځان سره سالم پاته کول دي اودامقصودله طلاق څخه وړاندي حاصل شوی دی لهذاله طلاق څخه وروسته به درجوع مستحق نه وي .دصاحبینوپه نزدبه دمقبوض نصف په نصف باندي خاوندپرښځه رجوع کوي لکه چې دټول مهردقبض کولوپه صورت کې دنصف په باره کې رجوع کولی شي صاحبین بعض پرکل قیاسوي.

ف:دامام ابو حنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المختار:(وان تقبضه اوقبضت نصفه لوهبت الكل)في الصورة الاولى (اومابقي) وهو النصف في الثانية (او) وهبت (عرض المهر) كثوب معين............الى ان قال:لارجوع لحصول المقصود،قال العلامة ابن عابدين:لانه وصل اليه عين مايستحقه بالطلاق قبل الدخول (الدر المختار مع الشامية:۲/۳۷۳)

(۸۹)اوکه یې داسې شی مهرجوړکړکوم چې په متعین کیدلوسره متعین کیږي مثلاحیوان ،جامه اوغیره بیاښځې واپس خاوندته هبه کوخواه که ښځې قبضه پرې کړي وي اوکه یې نه وي کړي اوس خاوندله دخول څخه وړاندي طلاق ورکړنوخاوندااستحساناله ښځې څخه هیڅ شې هم نشې اخیستلی دقیاس تقاضا خوداده چې دعین مهردنصف واپس کول واجب وي کوم چې موجودنه دی ولی چې دلته خاوندلره دمهرسالم والی دښځې په بری کولوسره حاصل شواوخاونددنصف مهر مستحق وو دطلاق قبل الدخول په وجه سره ،لهذاښځه به له دي څخه بری نه وي دکوم چې خاوند مستحق دی نوخاوندلره به په نصف مهرکې درجوع کولوحق حاصل وي . داستحسان وجه داده چې دخاوندحق دطلاق پروخت دنصف مقبوض سالم والی دی

اوخاوند ته خودښځې له طرفه عین مهررسیدلی دی لهذا دخاوند دمقصود دحاصلیدو په وجه سره به ده لره دځه اخیستلو حق نه وي.

(۹۰) وَلَوْ نَكَحَهَا بِأَلْفٍ عَلَى أَنْ لَا يُخْرِجَهَا أَوْ عَلَى أَنْ لَا يَتَزَوَّجَ عَلَيْهَا أَوْ عَلَى أَلْفٍ إِنْ أَقَامَ بِهَا وَعَلَى أَلْفَيْنِ إِنْ أَخْرَجَهَا فَإِنْ وَفَّى وَأَقَامَ فَلَهَا الْأَلْفُ (۹۱) وَإِلَّا فَمَهْرُ الْمِثْلِ

ترجمه: اوکه یې له ښځې سره نکاح وکړه د زرو روپو په عوض په دې شرط چې دا به نه باسې له وطن څخه یا پردې شرط چې له بلې ښځې سره به نکاح نه کوي پردې یا په زرباندې که یې په وطن کې اوسوله او په دوه زره که یې له وطن څخه وایستله نو که ده شرط پوره کو او دایې په وطن کې واوسوله نو دې لره زردرهمه دي ،که نه نو مهرمثل به ورکوي.

تشریح: (۹۰) که کوم کس له کومې ښځې سره نکاح وکړه او روپۍ یې مهرمقررکړاو ښځې دا شرط ولګاوو چې خاوند به دا ددې له ښار څخه نه باسې یا ددې په موجودوالی کې به له بلې ښځې سره نکاح نه کوي اویاکه په همدې ښار کې پریښود ه نومهربه زردرهمه وي او که یې باهرکړه نودوزره درهمه به وي نو که خاوند شرط پوره کو نو ښځې لره به مسمی یعنی زردرهمه وي ولی چې زرروپۍ دمهرجوړیدلو صلاحیت لري او ښځه هم پرراضی ده.

(۹۱) قوله والافمهرالمثل ای وان لم یف بالشرط فلهامهرالمثل ،یعنی که خاوند شرط پوره نه کو بلکه ددې په موجودوالی کې یې له بلې ښځې سره نکاح وکړه یایې ښځه ددې له ښار څخه ویستله یایې په دریم صورت کې ښځه ددې له ښار څخه ویستله دکوم په باره کې چې ښځې ویلې وو چې که یې له دې ښار څخه ویستله نومهربه دوه زره وي نوښځې لره مهرمثل دی ولی چې خاوند دعقدپروخت یو داسې شئ ذکرکړی دی چې په هغه کې دښځې نفع ده نودنفع دفوت .کیدلوپه وجه سره په یوزرباندې دښځې رضامندی منعدمه شوه لهذاددې لپاره به مهرمثل مکمل کیږي.

ف: په دریم صورت کې دامام ابوحنیفه رحمه الله اوصاحبینورحمهماالله تعالی ترمنځ اختلاف دی ،دامام صاحب په نزدشرط اول جائزدی اوشرط دوهم جائزنه دی یعنی که یې مسمی په ښارکې واوسوله نوزر درهمه مهربه وي اوکه یې ویستله نومهرمثل به وي ،دصاحبینوپه نزددواړه شرطونه جائزدي لهذا د اقامت په صورت کې به مهرزردرهمه وي اوداخراج په صورت کې به مهردوه زره وي ولی چې دا داسې ده لکه چې کوم کس په دووشیانوکې دهریوه قیمت معلوم کړي اووایې چې په ددې دووشیانوکې چې کوم یوهم وغواړم هغه به اخلم نوهغه په دواړوکې چې کوم یووغواړي، هغه دې دهغه په قیمت سره واخلي.دامام صاحب دلیل دادی چې دښځې په ښارکې داوسولوپه صورت کې یوه تسمیه منجزه او دوهمه معلقه ده نوپه یووخت کې دوه تسمیې نه وي او ددې داخراج په صورت کې دوه تسمیې جمع کیږي دکوم په وجه سره چې مهرمجهول ګرځي اودجهالت په وجه سره تسمیه فاسدیږي لهذا مهرمثل به واجب وي.باقی داقامت په صورت کې یوه تسمیه اوداخراج په صورت کې دوه تسمیې په دې وجه سره جمع کیږي چې معلق بالشرط له شرط څخه وړاندې نه موجودیږي اومنجزدمعلق په وجودسره نه منعدم کیږي لهذا ددووتسمیو اجتماع دشرط دوجودپه وخت کې موجودیږي له دې څخه وړاندې نه موجودیږي.

ف:دامام ابو حنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المختار:نكحها(على الف ان اقام بها وعلى الفين ان اخرجها فان وفى)بما شرط فى الصورة الاولى (واقام)بهافى الثانية (فلها الالف).........(والا)يوف ولم يقم (فمهر المثل)لفوات رضاها بفوات النفع (الدر المختار على هامش رد المحتار:۲/۳۷۴)

(۹۲)وَلَوْ تَزَوَّجَهَا على هذا العَبْدِ او على هذا الألْفِ حُكِّمَ مَهْرُ المِثْلِ وَكَذَا إذَا تَزَوَّجَهَا على هذا العَبْدِ او على هذا العَبْدِ وَأَخَذَهُمَا أَوْكَسُ حُكِّمَ مَهْرُ المِثْلِ (۹۳)وَعَلَى فَرَسٍ او حِمَارٍ يَجِبُ الوَسَطُ او قِيمَتُهُ (۹۴)وَعَلَى ثَوْبٍ (۹۵)او خَمْرٍ او خِنْزِيرٍ (۹۶)او على هذا الخَلِّ فإذا هو خَمْرٌ (۹۷)او على هذا العَبْدِ فإذا هو حُرٌّ يَجِبُ مَهْرُ المِثْلِ

ترجمه:اوكه يې نكاح وكړه له ښځې سره پردي غلام ياپردي غلام باندي نو حاكم به كرځول كيږي مهرمثل لره ،اوپه خره باندي ياپه آس باندي نو واجبيږي به درميانه يادهغه قيمت ،اوپه جامې باندي ،ياپه شرابو باندي ياپه خنزير باندي ،ياپه دي سركې باندي اوحال داچې هغه شراب وو ،ياپه دي غلام باندي حال داچې هغه ازاد وو نو واجبيږي به مهرمثل .

تشريح :(۹۲)كه چابنځې ته ددوو غلامانوپه باره كې وويل چې په مهركې به دا غلام دركوم يادا،كوم يويې متعين نه كواو ددواړو قيمت هم مختلف وو نو امام صاحب فرمايي چې دمهرمثل په ذريعه سره به فيصله كيږي يعنى كتل كيږي به چې دمهرمثل دلږقيمت والاغلام څخه كم دى كه مساوى دى،يادزيات قيمت والاغلام څخه زيات دى ،اوياكه ددواړوغلامانو دقيمت په منځ كې دى ،په اولنيو دوو صورتونو كې خو ښځې لپاره دكم قيمت والاغلام دى ولى چې مهرمثل دلږقيمت والاغلام څخه له لږوالى سره خاونددي غلام په مهركې په وركولو راضى شوى دى ،په دريم صورت كې دزيات قيمت والاغلام دى له دي څخه زيات به نه وي ولى چې دمهرمثل له ډيرقيمت والاغلام څخه دزياتوالى باوجودښځه ددي غلام په مهركې په اخيستلو راضى شوي ده .اوپه څلورم صورت كې به ښځې ته مهرمثل وركول كيږي ولى چې اصل واجب مهرمثل دى اوله مهرمثل څخه عدول دصحت تسميه په وخت كې وي اودلته په دووغلامانو كې دترددا وشك په وجه سره جهالت پيداشوى دى نو ددي جهالت په وجه سره تسميه فاسده شوه لهذا مهرمسمى به واجب نه وي لكه مهرمثل به وركوي ،حال داچې صاحبين فرمايي چې په هرصورت كې به دلږقيمت والاغلام وركوي ولى چې دلږقيمت والاغلام يقيني دى په زائدكې ترددى لهذا دامتيقن به واجب وي.

ف:دامام ابو حنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی رد المحتار:(قوله حكم مهر المثل)هذا قوله وعندهما لها الاقل والمتون على الاول ورجح فى التحرير قولهما (رد المحتار:۲/۲۷۶)

(۹۳)قوله وعلى فرس اوحمار اى لونكحها على فرس اوحمار،يعنى كه چاله كومې ښځې سره نكاح وكړه اومهريې يوداسې حيوان مقرركودكوم چې جنس معلوم وي مثلاداچې فرس دى يابقردى يادحماردى مگرددهٔ نوع اووصف يې بيان نه كوچې داعلى درجې فرس به وي يااوسط يادادنې درجې فرس به وي نودا مهرمقرركول صحيح دى اوزوج لره اختياردى چې هغه دمتوسط درجې حيوان وركوي اوكه دمتوسط درجې دحيوان قيمت وركوي ،دااختيارځكه دى چې دحيوان متوسط والى په قيمت سره معلوميږي

لهٰذا دا، په حق کې قيمت اصل دی ،او دتسميې په اعتبار سره حيوان اصل دی ځکه چې تسميه پرده واقع شوي ده لهٰذا خاوند په دواړو کې کوم يو اختيار کولی شي .

ف: په متن کې داولفظ دتشکيک لپاره نه دی بلکه دتنويع لپاره دی يعنې صرف نوع بدفرس يې دمهرپه طور باندې مقرر کو يا يې صرف نوع حمار مقرر کړولی چې که لفظ داوتشکيکيه شي نو بيا خود ابعينه دتيري شوي مسئلې صورت دی په کومه کې چې دا بيان شو چې مهر مثل به فيصل جوړيږي .

(۹۴)قوله وعلی ثوب ای لونکحها علی ثوب ،يعنې که چاله ښځې سره نکاح وکړه او مهريې جامه مقرره کړه او دجامې جنس او وصف يې بيان نه کو بس صرف دو مره يې وويل چې جامه به درکوم نو ښځې لره به مهرمثل وي ځکه چې دلته دجامې جنس مجهول دی ولی چې جامې ډير جنسونه لري ،او که يې دجامې وصف او جنس بيان کومثلا دا يې وويل چې هروی جامه به درکوم نو دا مهرمقرر کول صحيح دي خاوندلره دقيمت يا جامې ورکولو اختيار دی لما ينا .

(۹۵)قوله او خمر او خنزير ای لونکحها علی خمر او خنزير ،يعنې که مسلمان کس له يوې ښځې سره نکاح وکړه او مهريې شراب يا خنزير مقرر کو نو دا نکاح صحيح ده ولی چې وړاندې تيره شوه چې دمهردنه ذکرکولو په صورت کې نکاح صحيح ده نو دفساد تسميه په صورت کې به په طريقه اولی سره صحيح وي.او په دې صورت کې لره مهرمثل دی ولی چې خمر او خنزير دمسلمان په حق کې مال متقوم نه دی او دغير مال ذکرکول داسې دی گويا هغه دمهرله ذکرکولو څخه ساکت دی او دسکوت په صورت کې مهرمثل واجبيږي .

ف: دامام مالک رحمه الله په نزد په مذکوره بالاصورت کې نکاح فاسديږي امام مالک رحمه الله نکاح په بيع باندې قياسوي .امام مالک رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې نکاح په بيع قياسول صحيح نه دي ولی چې بيع په شرط فاسد سره فاسديږي حال دا چې نکاح په شرط فاسد سره نه فاسديږي .

(۹۶)قوله او علی هذا الخل ای نکحها علی هذا الخل الخ،يعنې که يو کس له ښځې سره نکاح وکړه او دنکاح پروخت خاوند دسرکې طرف ته په اشاره کولو سره وويل چې په دې سرکه له تاسره نکاح کوم حال دا چې هغه سرکه نه وه بلکه شراب وو نو دامام صاحب رحمه الله په نزد مهرمثل واجبيږي ولی چې هذا الخل کې اشاره او تسميه دواړه جمع شوي او چيرته چې دادواړه سره جمع شي نو اشاره معتبره وي ولی چې يو شي ته په امتيازورکولو کې اشاره ابلغه ده تر تسميه نو کله چې اشاره معتبره شوه نو گويا نکاح يې په شرابو وکړه او قاعده ده چې کله شراب مهرمقرر کړي نو مهرمثل واجبيږي .

(۹۷)قوله او علی هذا العبد الخ ای نکحها علی هذا العبد الخ ،يعنې که چاله يوې ښځې سره نکاح وکړه او بوقت نکاح خاوند ديو کس لورته په اشاره کولو سره وويل چې په دې غلام باندې له تاسره نکاح کوم حال دا چې مشاراليه غلام نه وو بلکه ازادشخص وو نو په دې صورت کې هم دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد مهرمثل واجبيږي ولی چې په دې صورت کې هم اشاره معتبره ده نو گويا نکاح يې په ازادشخص وکړه او قاعده ده چې کله ازاد کس مهروگرځول شي نو مهرمثل واجبيږي .

(۹۸) وَإِذَا أَمْهَرَ عَبْدَيْنِ وَأَحَدُهُمَا حُرٌّ فَمَهْرُهَا الْعَبْدُ (۹۹) وَفِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ إِنَّمَا يَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ بِالْوَطْءِ وَلَمْ يَزِدْ عَلَى الْمُسَمَّى (۱۰۰) وَيَثْبُتُ النَّسَبُ وَالْعِدَّةُ

ترجمه: او كه يې مهر مقرر كو دوه غلامان حال دا چې په دوئ كې يو ازاد وو نو دي مهر صرف غلام دی، او په نكاح فاسده كې واجبيږي مهر مثل په وطی سره او نه دي زياتيږي په مهر مسمی باندي، او ثابتيږي نسب او عدت.

تشريح: (۹۸) كه خاوند دوو غلامانو ته اشاره وكړه ويې ويل چې په دي دوو غلامانو سره نكاح كوم حال دا چې په دوئ كې يو ازاد دی او دوهم غلام دی نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په دوئ دووكې چې كوم يو غلام دی كه دهغه قيمت له لس درهمه سره برابر يا زيات وو نو صرف همدا غلام به بطور مهر واجب وي ولی چې باقی مانده يو غلام دمال والی په وجه سره دمهر جوړيدلو صلاحيت لري لهذا همدا يو خو واجب دی او دمهر مسمی وجوب له مهر مثل مقرركولو څخه مانع دی كه څه هم مسمی كم هم وي.

ف: دامام ابويوسف رحمه الله په نزد كوم چې غلام دی هغه خو واجب دی او كوم چې ازاد دی هغه چې غلام فرض كړي او څومره قيمت يې وي هغه هم پرخاوند واجب دی ولی چې كه دا دواړه حروای نو دواړو قيمت به واجبيدلای نو كله چې يو حر ثابت شو نو دهمدي يوه قيمت به واجب وي. او دامام محمد رحمه الله په نزد غلام واجب دی تر پوره كولو د مهر مثل پوري يعنی كه مهر مثل دغلام له قيمت څخه زيات وي نو مهر مثل به پوره كيږي. دامام محمد رحمه الله دليل دا دی چې كه دا دواړه ازاد وای نو مهر مثل به واجبيدو نو كله چې يو غلام دی نو غلام واجبيږي تر پوره كولو د مهر مثل پوري.

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی لماقال ابن عابدين فی الشامية: (قوله ورجحه الكمال) والمتون علی قول الامام وفی القهستانی انه ظاهر الرواية (ردالمحتار: ۲/۳۸۰)

(۹۹) له عقد نكاح څخه وروسته كه خاوند ښځې ته طلاق وركې يا قاضی ددوئ په منځ كې تفريق وكړي نو په خاوند نصف مهر واجب دی ليكن كه چا نكاح فاسده (نكاح فاسده هغه ده په كومه كې چې دنكاح له شرطونو څخه كوم شرط موجود نه شي مثلاً گواه نه وي يا يې اختين جمع كړي وي يا له وړاندي څخه دده څلور ښځې موجودي وي) وكړه بيا قاضی ددوئ په منځ كې تفريق وكونو كه دا تفريق قبل الوطی وي نو د ښځې لپاره مهر مثل نشته ولی چې په نكاح فاسده كې مهر دمنافع بضع په استيفاء سره واجبيږي صرف په عقد نكاح سره نه واجبيږي. همدا شان په خلوت سره هم مهر نه واجبيږي ځكه چې كله عقد صحيح نه دی نو خلوت به هم صحيح نه وي ولی چې له وطی څخه مانع يعنی حرمت موجود دی. هو كه تفريق بعد الوطی وي نو مهر مثل واجبيږي ولی چې وطی له ضمان جابر يا حد زاجر څخه خالی نه وي حد خو د شبه په وجه سره متعذر دی لهذا مهر مثل متعين دی. مگر دا مهر مثل به زموږ په نزد له مهر مسمی څخه زائد نه وي حال دا چې دامام زفر رحمه الله په نزد مطلقاً مهر مثل واجب دی خواه كه له مسمی څخه كم وي او كه زائد وي. زموږ دليل دا دی چې كله مهر مسمی له مهر مثل څخه كم دی نو گويا ښځه دخپل حق په كمولو باندي په خپله راضی شوي ده دكوم چې دي لره اختيار هم شته.

(۱۰۰) قوله ويثبت النسب ای ويجب نسب ولد المولود فی النكاح الفاسد، يعنی دنكاح فاسدي په صورت كې چې كوم بچی پيدا شي دهغه نسب به ثابت وي او له تفريق څخه وروسته به پر ښځه باندي عدت واجب وي ولی چې په نكاح فاسده كې شبه دنكاح موجوده ده او داحتياط په محل كې شبه نكاح په حقيقت نكاح پسې ملحق

کول شوي ده او نسب داسې امردی دکوم به ثابتولو کې چې احتياط کيږي ولی چې دنسب په ثبوت کې دولد احياء ده چې ده لره به تربيت کونکی حاصل شي لهذا نسب به ثابت وي نو دنسب د حفاظت لپاره به عدت هم واجب وي.

ف: د امام محمد رحمه الله په نزد په نکاح فاسده کې نسب له وخت د دخول څخه ثابتيږي او د شيخينو په نزد د نکاح له وخته ثابتيږي ثمره اختلاف په دي صورت کې ښکاره کيږي چې د نکاح فاسدي څخه شپږ مياشتې وروسته بچی پيدا شو ليکن د دخول له وخت څخه لا شپږ مياشتې نه دي پوره شوي نو د شيخينو په نزد به نسب ثابتيږي او د امام محمد رحمه الله په نزد نه ثابتيږي او پر همدي باندي فتوی هم ده لما في شرح التنوير: وهذا قول محمد وبه يفتی وقالا ابتداء المدة من وقت العقد كالصحيح ورجحه في النهر، قال ابن عابدين: (قوله ورجحه في النهر) ترجيحه لا يعارض قول صاحب الهداية وغيره ان الفتوی علی قول محمد. (ردالمحتار: ۲/۳۸۲)

(۱۰۱) وَمَهْرُ مِثْلِهَا يُعْتَبَرُ بِقَوْمِ أَبِيهَا إِذَا اسْتَوَيَا سِنًّا وَجَمَالًا وَمَالًا وَبَلَدًا وَعَصْرًا وَعَقْلًا وَدِينًا وَبَكَارَةً (۱۰۲) فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ فَمِنَ الْأَجَانِبِ

ترجمه: او د مهر مثل د ښځې به معتبريږي د ښځې د پلار د خاندان والا حال دا چې دواړه به برابروی په عمر او جمال او مال او شهر او زمانه او عقل او دينداری او په باکره والی کې، که نه وو موجود نو بيا د اجانبو اعتبار دی.

تشريح: (۱۰۱) د ښځې په مهر مثل کې به د دي د خاندان د ښځو اعتبار کيږي يعنی هغه ښځې چې د دي د پلار له طرفه دي ته منسوبې وي مثلا خوندي، عمې، او د اکالورانې وغيره د دوئ چې څومره مهري د ښځې مهر مثل به هم د دوئ په شان وي ولی چې ښځې د پلار د قوم لور ته منسوبه وي د هغه شرافت په وجه سره ښځه شريفه گڼل کيږي، او په مهر مثل کې مزيد دڅه نورو شيانو اعتبار هم وي مثلا داچې دا دواړه ښځې به په عمر کې، په جمال کې، په مال کې، په عقل کې، په دين کې، په ښارکې، او په زمانه کې سره برابري وي، همدا شان په بکارت او ثيوبت، علم او ادب او په حسن اخلاق کې به سره برابري وي ولی چې مهر مثل د دي اوصافو په اعتبار سره مختلف کيږي.

(۱۰۲) قوله فان لم توجد فمن الاجانب ای ان لم توجد من قوم ابيها من كانت مثل حالها في الاشياء المذكورة فيعتبر من الاجانب

يعنی که د پلار په خاندان کې کومه داسې ښځه نه وي چې په دي امورو کې له دي سره برابره وي نو بيا به د دي مهر د پرديو ښځو مهر ته په کتلو سره مقرريږي او په پرديو کې به هم د هغې قبيلې ښځو ته کتل کيږي کومه چې د دي د پلار د قبيلې په شان وي.

ف: په مهر مثل کې به د ښځې د مور او خاله اعتبار نه کيږي په دي شرط چې د دي مور او خاله د دي د پلار له قوم څخه نه وي. مګر د مور او د خاله اعتبار به هغه وخت نه کول کيږي چې د ښځې د پلار د قوم ښځې موجودي وي او که د پلار د قوم ښځې نه وي موجودي نو بيا په پرديو کې د ښځې د مور د قوم د ښځو اعتبار کول اولی دی تر نورو پرديو ښځو.

(۱۰۳) وَصَحَّ ضَمَانُ الْوَلِيِّ الْمَهْرَ وَتُطَالِبُ زَوْجَهَا أَوْ وَلِيَّهَا (۱۰۴) وَلَهَا مَنْعُهُ مِنَ الْوَطْءِ وَالْإِخْرَاجِ لِلْمَهْرِ وَإِنْ وَطِئَهَا (۱۰۵) وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي قَدْرِ الْمَهْرِ حُكِّمَ مَهْرُ الْمِثْلِ (۱۰۶) وَالْمُتْعَةُ لَوْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الْوَطْءِ (۱۰۷) وَلَوْ فِي أَصْلِ الْمُسَمَّى يَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ

ترجمه: او صحيح ده ضامن كيدل دولي مهرله او عورت به مطالبه كوي له خپل خاوند څخه ياله خپل ولي څخه ، او ښځې لره داحق شته چې دا منع كړي خاوندله وطي څخه او له باهرته بولو څخه د مهرپه وجه سره كه څه هم خاوند وطي كړي وي له دي سره ، او كه دواړو اختلاف وكړ د مهرپه مقدار كې نو حكم به جوړيږي مهرمثل ، او متعه لره كه يې طلاق وركړي وو له وزطي څخه وړاندي ، او كه په اصل مسمى كې اختلاف وكونو مهرمثل واجبيږي .

تشريح :(۱۰۳) كه د ښځې ولي ښځې ته ددي د خاوندله طرف څخه د مهرضامن شونو دا جائزده ولي چې ولي په خپل ځان باندي ديوشئ دلازمولو اهل دی ، او ښځې لره اختيار دی چې دادخپل مهرمطالبه له خاوند څخه وكړي ياله ولي څخه ولي چې په ټولو كفالوكې دادستور دی چې صاحب مال له مديون او كفيل دواړو څخه مطالبه كولی شي .

(۱۰۴) او كه ټول مهرياىعض مهرمعجل (كوم مهرچې خاوندفورااداء كوي هغه ته معجل ويل كيږي او كوم چې پوروي هغه ته مؤجل ويل كيږي) مقررشوی وو نو د خاوندله طرفه د مقدارمعجل دعدم اداء كولو په وجه سره ښځې لره دااختيار دی چې داخاوندله دي سره له جماع كولو څخه منع كړي ، همدا شان كه خاوند دا په سفرباندي بيول وغواړي نوهم ښځې لره دااختيارشته چې له ده سره په سفرله تللو څخه منع وكړي ولي چې نكاح عقدمبادله دی كوم چې دجانبينوپه منځ كې دمساوات تقاضاكوي او په مبدل يعنی بضع كې دخاوند حق متعين دی لهذااوس بايد ښځې ته په بدل باندي قبضه وركړي ترڅو د ښځې حق په بدل كې متعين شي په دي شان به په دواړو كې مساوات راشي .بيادا امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دا تعميم هم شته چې كه له دي سره وړاندي خاوند وطي كړي وي او كه يې نه وي كړي ولي چې مهر دټولو صحبتونو په مقابله كې دی دكوم يوه صحبت په مقابله كې نه دی ترڅو چې يو صحبت هم بلاعوضه پاته نشي لهذا له يوځل وطي كولو څخه وروسته له دوهم ځل وطي كولو څخه هم دمنع كولو حق شته .

ف: دصاحبينو په نزد په له يوځل وطي كولو وروسته ښځې لره دمنع كولو حق نشته ولي چې يوځل له وطي كيدلو څخه وروسته د ښځې له طرف څخه پوره معقودعليه خاوند ته سپارل شوی دی همدا وجه ده چې اوس په خاوند باندي پوره مهرلازم دی نودا اسې شوه لكه چې بائع په ثمن له قبضې كولو څخه وروسته مشتري ته مبيع وسپاري نو بائع د ثمن په وجه سره د مبيع د منع كولو حق نشته .

ف: دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی لمافي الدر المختار :(ولهامنعه من الوطء) ودواعيه شرح مجمع (والسفربهاولو بعدوطء وخلوة رضيتهما) لان كل وطاة معقود عليها فتسليم البعض لايوجب تسليم الباقي .(الدر المختار على هامش رد المحتار (۲/۳۸۸)

(۱۰۵) كه زوجينو د مهرپه مقداركې اختلاف سره وكړمثلازوج وايي چې زرروپۍ مهرمقرر شوی وو او وجه وايي دوزره مقررشوی وو نومهرمثل به فيصل جوړيږي نو كه مهرمثل يوزرياله دي څخه لږ وو نوخاوندقول به مع اليمين معتبروي او كه مهرمثل دوزره ياله دي څخه زيات وي نو د ښځې قول به مع اليمين معتبروي او كه مهرمثل دزرو او دوو زرو په منځ كې وو نو مهرمثل به واجبيږي .

ف: كه په زوجينو كې كوم يوه گواه پيش كړونو خواه كه مهرمثل دخاوند دقول مطابق وي يادښځې دقول مطابق وي په دواړو صورتونو كې گواه منل كيږي او كه دواړو گواه پيش كړونو كه مهرمثل دخاونددقول

مطابق وو نو دښځې گواه به منل كيږي او كه مهرمثل دښځې دقول مطابق وو نو دخاوند گواه به منل كيږي ولى چې گواه هغه شئ ثابتوي كوم چې ظاهرا ثابت نه وي او څرنگه چې په اول صورت كې دښځې قول خلاف ظاهر دى ځكه به نو ددي گواه منل كيږي او په دوهم صورت كې دخاوند قول خلاف ظاهر دى ځكه به نو دده گواهانو گواهى منل كيږي.

(۱۰۶) قوله والمتعة لو طلقها قبل الوطى اى وحكم المتعة لو طلقها قبل الوطى ،يعنى كه په مذكوره بالاصورت كې خاوند ښځې ته قبل الوطى طلاق وركړنو متعه مثل به فيصل جوړيږي يعنى متعه مثل كه دزرو روپو نصف ياله دي څخه لږوه نو دخاوند قول به مع اليمين معتبروي او كه متعه مثل ددوو زرو دنصف ياله دي څخه زيات سره برابره وه نو دښځې قول به مع اليمين معتبروي ،او كه كوم يوه گواه پيش كويا دواړو گواه پيش كونو په دي صورتونو كې هم هغه شان تفصيل دى كوم چې په سابقه مسئله كې بيان كړل شو.

(۱۰۷) قوله ولو في اصل المسمى يجب مهر المثل اى لو اختلفا في حال الحيوة فانكر احدهما التسمية والاخر ادعاه فيجب مهر المثل ،يعنى كه دزوجينو اختلاف په مقدار مهركې نه بلكه په اصل مسمى كې وو مثلا يو وايي چې دعقدنكاح پروخت مهر مقرر شوى دى او بل منكر دى نو بالاتفاق مهرمثل واجبيږي،دطرفينو په نزد خو ځكه چې په دواړو كې يو دمهر مسمى مدعى دى او بل منكر دى او قول دمنكر معتبروي لهذا مهر دابه ويل كيږي چې مهر نه دى مقرر شوى او كله چې مهر نه وي مقرر شوى نو مهرمثل واجبيږي،او دامام ابو يوسف رحمه الله په نزد اصل خو مهر مسمى دى مگر څرنگه چې داختلاف په وجه سره ومسمى فيصله متعذره شوه په دي وجه باندي مهرمثل واجبيږي.

ف:او كه په زوجينو كې كوم يو مړشو او هغه بل دمرده له ورثه سره په مقدار مهر يا اصل مسمى كې اختلاف وكونو په دواړو صورتونو كې هغه حكم دي كوم چې ددواړو په حيات كې داختلاف په صورت كې وو ولى چې دكوم يوه په مرگ سره دمهر مثل اعتبار نه ساقطيږي .همداشان كه خاوند وروسته له دخول څخه طلاق وركړنو كه اختلاف دژوندى او مرده دورثه په منځ كې په اصل مسمى كې وي نو مهرمثل به واجبيږي او كه اختلاف په مقدار مهركې وو نو مهرمثل به فيصل جوړوي.

(۱۰۸) وَاِنْ مَاتَا وَاخْتَلَفَتْ وَرَثَتُهُمَا وَلَوْ فِي الْقَدْرِ فَالْقَوْلُ لِوَرَثَتِهِ (۱۰۹) وَمَنْ بَعَثَ اِلَى امْرَأَتِهِ شَيْئًا فَقَالَتْ هُوَ هَدِيَّةٌ وَقَالَ هُوَ مِنَ الْمَهْرِ فَالْقَوْلُ لَهُ فِي غَيْرِ الْمُهَيَّاِ لِلْاَكْلِ

ترجمه :او كه زوجين وفات شول او اختلاف وكوددوئ دواړو ورثه ونو كه څه هم په مقدار مهركې اختلاف وي نو قول دزوج دورثه معتبر دى ،او چاچې وليږدول خپلې ښځې ته كوم شئ نو ښځې وويل چې دا هديه وه او خاوند وويل چې هغه له مهر څخه وو نو قول به دخاوند معتبروي دخوراك له شيانو څخه په علاوه كې.

تشريح :(۱۰۸) كه ددواړو زوجينو انتقال وشو بيا ددوئ ورثه وپه مقدار مهركې اختلاف وكونو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دخاوند دورثه وقول مع اليمين معتبر دى كه څه هم هغوئ دشئ قليل اقرا روكړي ،دامام ابو يوسف رحمه الله په نزد هم دخاوند دورثه قول معتبر دى ليكن كه ورثه دكوم معمولي شئ اقرار وكړي نو دامام ابو يوسف رحمه الله په نزد ددوئ قول معتبر نه دى .دامام محمد رحمه الله په نزد تر پوره كولو دمهرمثل پوري دښځې دورثه قول معتبر دى او له دي څخه په زائد كې دخاوند دورثه قول معتبر دى كمافي حال الحياة

.دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې دخاوندورثه دمهرله زیادت څخه منکردي اود ګواه دنه وجودپه صورت کې قول دمنکرمع الیمین معتبروي لهذا دخاوندورثه قول به معتبر وي.اوکه دزوجینوورثه وپه اصل مهرکې اختلاف وکونوداامام صاحب په نزدبه دهغه چاقول معتبروي کوم چې له مقررکیدلوڅخه انکارکوي لیکن کوم شئ به فیصل نه جوړوي اودخاوندپه ورثه وباندي هیڅ هم واجب نه دي.

ف:دصاحبینوپه نزدبه مهرمثل فیصل جوړوي لکه څرنګه چې په حالت حیاة کې دی دصاحبینوقول راجح دی کمافی شرح التنویر:وفی الاختلاف (فی اصله)القول لمنکر التسمیة (لم یقض بشئ) مالم یبرهن علی التسمیة (وقالا یقضی بمهر المثل) کحال الحیاة (وبه یفتی).(ردالمحتار:۲/۳۹۳)

(۱۰۹)که خاوندښځې ته یوڅه شئ ورولیږل بیادزوجینوسره اختلاف شو،خاوندوایې چې دامهروو ،اوښځه وایې چې داهدیه وه ،نوپه دې صورت کې دخاوندقول مع الیمین معتبردی ولی چې خاوندمالک جوړونکی دی لهذاپه جهت تملیک باندي هغه ډیرښه خبردی چې دهدي په ډول وو اوکه دمهرپه ډول وو .داپه هغه وخت کې ده چې لیږل شوی شئ دخورک څښاک شئ نه وي اوکه خاوندښځې ته دخورک کوم داسې شئ ورولیږی چې هغه ترډیره په پاته کیدلوسره خرابیدو مثلاکباب شوي غوښه یاپوخ شوی سالن وغیره ،اوس دزوجینواختلاف شونودي شیانوپه باره کې به دښځې قول معتبر وي ولی چې ددي شیانوهدیه والی متعارف دی عموماداشیان بطورهدیه لیږل کیږي نه بطورمهرلهذاددوئ په باره کې به دښځې قول معتبروي.

(۱۱۰)وَلَوْ نَكَحَ ذِمِّيٌّ ذِمِّيَّةً بِمَيْتَةٍ أَوْ بِغَيْرِ مَهْرٍ وَذَا جَائِزٌ عِنْدَهُمْ فَوُطِئَتْ أَوْ طُلِّقَتْ قَبْلَهُ أَوْ مَاتَ عَنْهَا فَلَا مَهْرَ لَهَا(۱۱۱)وَكَذَا الْحَرْبِيَّانِ ثَمَّةَ

ترجمه:اوکه نکاح وکړه ذمی له ذمیه سره دمردارپه عوض یابغیرله مهرڅخه اوداجائزده ددوئ په نزدبیاله دي سره وطی وشوه یاطلاق ورکړل شوله وطی څخه وړاندي یاخاوندمړشونومهربه نه وي دښځې لپاره ،اوهمداحکم دی دحربیانوپه دارالحرب کې.

تشریح:(۱۱۰)کله چې مصنف رحمه الله دمسلمانانودمهرله بیان څخه فارغ شونودکافرانودمهرپه بیان یې شروع وکړه لکه چې فرمایې چې که په دارالاسلام کې کوم ذمی له ذمیه سره نکاح وکړه اومرداریې مهرمقررکو(یعنی کوم داسې شئ یې مهرمقررکوکوم چې مال نه دی)یایې بغیرله مهره نکاح وکړه اوهمداشان نکاح ددوئ په دین کې جائزه وه بیاخاوندله دي له دي ښځې سره صحبت وکویایې له صحبت کولوڅخه وړاندي طلاق ورکویاخاوند مړشونوداامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددي ښځې لره به مهرنه وي ولی چې ذمی خونه په دیاناتوکې زموږاحکام پرڅان لازم کړي دي اونه په هغواعتقاداتومې په کوموکې چې ددوئ اعتقادزموږله اعتقادڅخه مخالف دی لکه بیع دخمراوخنزیروغیره اوموږته حکم شوی دی چې دوئ پرخپل دین باندي پریږدولهذادي ښځې لره به مهرنه وي.

ف:اودصاحبینوپه نزدمهرمثل به وي دصاحبینودلیل دادی چې دعقدذمه په وجه سره ذمی په معاملاتو کې احکام اسلام په خپله پرخپل ځان لازم کړي دي چنانچه دزنااورباوغیره ممانعت ددوئ لپاره هم دي لکه څرنګه چې زموږلپاره ممانعت دی اونکاح له معاملاتوڅخه ده لهذاپه باب دنکاح به زموږاوددوئ حکم یووي.صاحبینوته ځواب ورکړل شوی دی چې دذمی لپاره زناخوپه دي وجه ممنوع ده چې زناپه

ټولو ديانو کې حرامه ده او ربا په دي وجه ممنوع ده چې ربا له عقد ذمه څخه مستثنی ده لقوله ﷺ الامن اربی يعني خبردار اچاچې دربا معامله وکړه زموږ او دهغه په منځ کې هيڅ عهد نشته لهذا نکاح په زنا او ربا باندي قياسول صحيح نه دي .

(۱۱۱) قوله و كذا الحربيان ثمه اى و كذا لونكح حربي حربية بميتة في دار الحرب فلامهرلها، يعني که په دار الحرب کې حربيانو مردارشئ مهرمقررکوياېې بغيرله مهرڅخه نکاح وکړه نوباتفاق ائمه ثلاثه ددي ښځې لپاره مهرنشته ولی چې په دارالحرب کې دوئ دقانون اسلام دپابندي التزام نه ده کړی او موږله طرفه پردوئ لازم کول متعذر دي لهذا پردوئ پرمهرواجبولو کې هيڅ فائده نشته .

ف: دامام زفر رحمه الله په نزدله حربيه کافره سره که خاوند صحبت وکويامړشونودي لره به مهرمثل واجبيږي ولی چې نکاح بغيرله مال څخه مشروع نه ده لکه چې ارشادباري تعالی دی (ان تبتغوا باموالكم) او دالله تعالی خطاب عام دی .

(۱۱۲) وَلَوْ تَزَوَّجَ ذِمِّيٌّ ذِمِّيَّةً بِخَمْرٍ او خِنْزِيرٍ عَيْنٍ فَأَسْلَمَا او أَسْلَمَ أَحَدُهُمَا لها الْخَمْرُ وَ الْخِنْزِيرُ (۱۱۳) وفي غَيْرِ الْعَيْنِ لها قِيمَةُ الْخَمْرِ وَمَهْرُ الْمِثْلِ في الْخِنْزِيرِ

ترجمه : او که نکاح وکړه ذمی له ذميه ښځې سره په دمعينو شرابو يا خنزيرپه عوض بيا دواړو اسلام قبول کړيا يوه اسلام قبول کړنو ښځې لره به [illegible]مرا و خنزيروي ،او په غير معين کې ښځې لره دشرابو په صورت کې دشرابو قيمت دی او مهرمثل دی دخنزيرپه صورت کې .

تشريح:(۱۱۲) که ذمی کس له ذميه ښځې سره نکاح وکړه او مهريې معين شراب يامعين خنزيرمقرر کړ بيا په مهرله قبضه کولو څخه وړاندي دواړه مسلمانان شول ياپه دواړوکې يو مسلمان شونودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدبه دي ښځې لره هغه معين شراب يامعين خنزيروي ولی چې ښځه دمعين خمراو معين خنزيردعقدپه وجه سره مالکه شوه همدا وجه ده چې هغه اوس په دي کې د هرقسم تصرف اختيارلري او همدا وجه ده چې که له قبضې څخه وړاندي هغه هلاک شو نودښځې پرملک هلاکيږي دخاوندپه ملک نه هلاکيږي لهذا خمراو خنزيردښځې لپاره متعين دي .

ف: دامام ابويوسف رحمه الله په نزدښځې لره مهرواجب دی ولی چې مسلمان منع کړل شوی دی دخمراو خنزيرله مالک جوړيدلو او مالک جوړولو څخه . او امام محمد رحمه الله فرمايې چې دخمرا و خنزير قيمت واجبيږي ولی چې بوقت عقدتسميه صحيح ده ولی چې عاقدين مسلمان نه دي حال دا چې اوس له تسليمولو څخه عاجزدي لهذا قيمت به واجبيږي .

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی لماقال المفتی غلام قادر النعمانی حفظه الله تعالی ی: القول الراجح هو قول ابی حنيفه لان قوله قول المتون........الخ. (القول الراجح: ۱/۲۸۹)

(۱۱۳) او که يې غيرمعين شراب ياغيرمعين خنزيرمقرکو بيازوجين ياله دواړو څخه يوه اسلام قبول کړنودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددغيرمعين شرابودمقررولو په صورت کې به دښځې لپاره دشرابو قيمت واجب وي ولی چې په دي صورت کې په قبضه کولو سره ښځه ددي مالکه ګرځي او قبضه داسلام په وجه سره متعذره شوه نو شراب څرنګه چې له ذوات الامثال څخه دي او ددي قيمت اخيستل دعين

شرابو داخیستلو په معنی کې نه دی لهذا د شرابو قیمت به واجبیږي .او خنزیر څرنګه چې له ذوات القیم څخه دی او د هغه قیمت اخیستل د عین خنزیر د اخیستلو په معنی دي لهذا د خنزیر په صورت کې به مهر مثل واجب وي .او د صاحبینو په نزد د غیر معین په صورت کې هم هغه حکم دی کوم چې د غیر معین په صورت کې وو .

ف: د امام ابو حنیفه رحمه الله قول راجع دی لما فی الدر المختار:(و) لها (فی غیر عین) قیمة الخمر ومهر المثل فی الخنزیر اذا اخذ القیمی کاخذ عینه　(الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۲/ ۳۰۰)

باب نکاح الرقیق

دا باب د غلام د نکاح په بیان کې دی

کله چې مصنف رحمه الله د احرارو د نکاح له بیان څخه فارغ شو نو اوس د غلامانو د نکاح احکام بیانوي وجه د مناسبت ظاهره ده چې حراصل دی .همدا راز له باب المهر سره متصل د غلامانو د نکاح د ذکر کولو وجه دا ده چې غلام په نکاح کې مهر جوړیدلی شي که کومه ښځه خاوند ته ووایي چې د دې غلام په عوض له تا سره نکاح کول نو صحیح ده .

رقیق مملوک غلام ته ویل کیږي د دې اطلاق پر واحد او جمع دواړو کیږي ،رقیق ،له رق بمعنی ضعف څخه دی او غلام ته رقیق په دې وجه ویل کیږي چې دی ضعیف او له تصرفاتو څخه ممنوع وي .

(۱۱۴) لم یجز نکاح العبد والامة والمکاتب والمدبر وام الولد الا باذن السید (۱۱۵) فلو نکح عبد باذنه بیع فی مهرها (۱۱۶) وسعی المدبر والمکاتب ولم یبع فیه

ترجمه: جائز نه ده د غلام ،مینځې ،مکاتب ،مدبر او ام ولد نکاح مګر د مولی په اجازه سره ،نو که نکاح وکړه غلام د مولی په اجازه سره نو خرڅیږي به د ښځې په مهر کې ،او ګټې به مهر مدبر او مکاتب او خرڅول کیږي به نه په مهر کې .

تشریح:(۱۱۴) د غلام ،مینځې ،مکاتب ،مدبر او ام ولد نکاح د مولی له اجازې څخه بغیر جائز نه ده (یعنی نافذه نه ده بلکه د مولی تر اجازې پورې موقوفه ده)ولې چې غلام او مینځې نکاح د دوئ په حق کې عیب شمارل کیږي لهذا د مولی له اجازې څخه بغیر هغه د دې د نفاذ مالک نه دي ،او د مکاتب نکاح ځکه موقوفه ده چې مکاتب لره که څه هم د تحصیل منافع لپاره د کسب کولو او محنت کول اجازه شته تر څو د کسب په ذریعه سره شرافت حریت حاصل کړي مګر نکاح داسې تصرف نه دی چې په هغه کې دي تحصیل منافع وي لهذا د نکاح په حد کې مکاتب اوس هم غلام شمارل کیږي ،باقي په مدبر او ام ولد کې د مولی ملک څرنګه چې تر اوسه شته لهذا د مولی له اجازې څخه بغیر مدبر او ام ولد هم د نکاح کولو مجاز نه دي .

ف: دا مسئله مکرره ده ولې چې مصنف رحمه الله له دې څخه وړاندې په باب الاولیاء کې له دې څخه په بله عبارت سره دا ذکر کړې ده ولې چې هلته عبارت داسې دی ،ونکاح العبد والامة بلا اذن السید موقوف ، او دلته یې فرمایلي دي لم یجز نکاح العبد الخ او صحیح دا ده چې د دوئ نکاح ناجائزه نه ده بلکه موقوفه ده .هو که دا وویل شي چې لم یجز په معاملاتو کې د لم ینفذ په معنی سره ده او نکاح هم له معاملاتو څخه ده نو بیا دا عبارت هم صحیح کیږي .

ف: دامام مالک رحمه الله په نزد دغلام دمالک له اجازې څخه بغيرنکاح کول جائزده ولې چې غلام دطلاق ورکولومالک دی نودنکاح کولومالک به هم وي ولې چې نکاح دطلاق سبب دی اوکوم کس چې دکوم شئ مالک شي هغه دهغه دسبب مالک هم وي ،امام مالک رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې په طلاق ورکولوسره دغلام عيب زائل کيږي اوپه نکاح کولوسره عيب ثابتيږي لهذانکاح په طلاق قياسول صحيح نه دي .داحنافودليل دنبی کريم ﷺ ارشاددی﴿ أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُ فَهُوَ عَاهِرٌ ﴾(کوم غلام چې دمولی له اجازې څخه بغيرنکاح وکړه هغه زانی دی).

(١١٥)نوکه غلام دمولی په اجازه سره نکاح وکړه نودانکاح صحيح ده اومهردغلام په ذمه قرض اوواجب ګرځي اوددې مهردادا ء کولولپاره به غلام خرڅيږي لکه چې ماذون فی التجارة غلام په قرضه کې خرڅيږي البته که په يوځل خرڅولوسره دده په ثمنومهرادانه شونودوهم ځل به نه خرڅيږي بلکه دباقي مهرمطالبه به له غلام څخه له ازادې وروسته کيږي.

(١١٦)مدبراومکاتب که دمولی په اجازه سره نکاح وکړه نودادواړه به روپی ګټي اومهربه ادا ء کوي دمهردادا ء کولولپاره دادواړه نه خرڅيږي ولې چې مدبراومکاتب سره بقاء تدبيراوکتابته له يوه ملک څخه بل ملک ته منتقل کيدل نه قبلولي لهذادادواړه به کسب کوي اوددوئ له ګټي به مهرادا ء کيږي ،البته مکاتب که له بدل کتابت ادا ء کولوڅخه عاجزه شوه اوبيرته غلام جوړشونواوس مهردده پرذمه دين دی اودهغه دادا ء کولولپاره به دي خرڅيږي الاداچې مولی دده مهرادا ء کړي نوبيادده دخرڅولوضرورت نشته .

(١١٧)وَطَلِّقْهَا رَجْعِيَّةً إِجَازَةٌ لِلنِّكَاحِ الْمَوْقُوفِ لَا(١١٨)طَلِّقْهَا أَوْ فَارِقْهَا(١١٩)وَالْإِذْنُ بِالنِّكَاحِ يَتَنَاوَلُ الْفَاسِدَ أَيْضًا(١٢٠)وَلَوْ زَوَّجَ عَبْدًا مَأْذُونًا لَهُ امْرَأَةً صَحَّ(١٢١)وَهِيَ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ فِي مَهْرِهَا(١٢٢)وَمَنْ زَوَّجَ أَمَتَهُ لَا يَجِبُ عَلَيْهِ تَبْوِئَتُهَا لَكِنَّهَا تَخْدُمُهُ وَيَطَؤُهَا الزَّوْجُ إِنْ ظَفِرَ بِهَا

ترجمه :او(دمولی غلام ته دا ويل چې)دی ته رجعی طلاق ورکړه اجازه ده دنکاح موقوفې ،نه داويل چې دي ته طلاق ورکړه ياېې جدا کړه ،اودنکاح اجازه شامله ده نکاح فاسدې ته هم ،اوکه يې نکاح وکړه د ماذون غلام له کومې ښځې سره نوصحيح ده ،اوښځه برابره ده له قرضخواهانوسره دخپل مهرپه باره کې ،اوچاکه په نکاح ورکړه خپله مينځه نوپر ده نه ده واجب شپه تيرول کول نودادې دمولی خدمت کوي اووطی دې کوي له دې سره خاوند کله چې پردې موقع پيدا کړي .

تشريح :(١١٧)قوله وطلقها رجعية اجازة للنكاح اى قول المولى لعبده الذى تزوج بغيراذنه طلقها طلقة رجعية اجازة للنكاح ،صورت مسئله دادی چې غلام دمولی له اجازې څخه بغيرنکاح وکړه نوځرنګه چې دانکاح دمولی تراجازې موقوفه ده نوکه مولی غلام ته وويل ،چې ته دې ته طلاق رجعی ورکړه نودمولی داويل دنکاح موقوف اجازه ده ولې چې رجعی طلاق له نکاح صحيح څخه وروسته وي لهذادمولی داقول داجازې ورکولوپه معنی کې متعين دی.

(١١٨)قوله لاطلقها اوفارقها اى لايكون اجازة للنكاح قول المولى طلقها اوفارقها ،يعنی که په مذکوره بالاصورت کې مولی غلام ته وويل ،چې ته دې ته طلاق ورکړه بغيرله قيددرجعی ،يامولی وويل ،ته داجدا کړه ،نودمولی داقول دنکاح موقوفې اجازه نه ده ولې چې په دې کې دااحتمال هم شته چې دمولی مقصددې دنکاح ردول وي لهذادمولی داقول اجازه نه شمارل کيږي.

(۱۱۹)كه مولى خپل غلام ته دنكاح كولو اجازه وركړه نو دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دا اجازه نكاح صحيح اوفاسدي دواړوته شامله ده ولى چې اجازه مطلقه په صحت يا فساد سره مقيده نه ده لهذا دواړه قسمه عقودوته شامله ده لكه دخرڅولو او اخيستلو داجازي وركولو په صورت كې چې اجازه عقد صحيح اوفاسد دواړوته شامل وي.

ف:دصاحبينو په نزد دا اجازه صرف نكاح صحيح ته شامله ده فاسد ته نه ده شامله ولى چې له نكاح څخه مقصود عفت اوپاک لمنې ده اودا مقصود صرف په نكاح صحيح سره حاصليږي په فاسده سره نه حاصليږي لكه چې څوک دنكاح وكيل جوړ ل چې دا توكيل صرف دنكاح صحيح توكيل كيږي دفاسدي نه،لهذا دنكاح داجازي وركولو په صورت كې به هم دا اجازه صرف دنكاح صحيح اجازه وى دفاسدي اجازه به نه وي .ثمره داختلاف داجازت په انتهاء كې ښكاريږي چې دامام صاحب په نزد غلام ته دمولى له طرفه حاصل شوى اجازت په نكاح فاسد سره هم پاى ته رسيږي نو له نكاح فاسد كولو څخه وروسته ده ته دبلې نكاح كولو حق نشته ،حال دا چې دصاحبينو په نزد دنكاح فاسد په صورت كې دمولى اجازت پاى ته نه رسيږي بلكه دنكاح صحيح كولو اجازه اوس هم غلام لره شته .

ف:دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دى لماقال المفتي غلام قادر النعماني:القول الراجح هو قول ابى حنيفة,قال العلامة ابن الهمام فالمعول عليه طريقة الاطلاق ويجاب عن مسئلة اليمين بان الايمان مبنية على العرف (القول الراجح: ۱/ ۲۹۰)

(۱۲۰)كه مولى دخپل داسې غلام نكاح له يوي ښځې سره وكړه كوم چې ماذون له فى التجارة وي اومقروض وي نو دا نكاح صحيح ده ولى چې صحت نكاح مبنى ده مالک لره په ثبوت ملک رقبه باندي اوثبوت ملک رقبه مولى لره له اذن فى التجارة وروسته هم باقي دى لهذا نكاح صحيح ده .

(۱۲۱)او ښځه به دخپل مهر په باره كې له قرضخواهانو سره برابره شريكه وي يعنى غلام به دقرض اومهر دواړو لپاره خرڅيږي په قيمت كې به له ښځې او قراضخواهانو څخه هر يو بقدر حق شريک وي ولى كله چې نكاح صحيح شوه نودين مهر په داسې سبب سره واجب شو كوم چې رفع كيدى نشي نو دا غلام دهغه مريض په شان شو كوم چې دمرض په حالت كې له يوي ښځې سره نكاح وكړي نو لكه څرنګه چې دمريض ښځه په خپل مهر مثل كې له قرضخواهانو سره برابره شريكه وي همدا شان به دمذكوره غلام ښځه هم له قرضخواهانو سره دخپل مهر مثل په حق كې برابره شريكه وي ،البته شرط دادى چې نكاح په مهر مثل يا له دي څخه پر كم شوي وي ولى چې كه نكاح له مهر مثل څخه پر زائد شوي وه نو په زائد مقدار كې به ښځه له قرضخواهانو سره برابره شريكه نه وي بلكه كوم وخت چې قرضخواهان خپل قرض وصول كړي نو چې څه پاتې شي له هغه څخه به ښځه دا زائد مقدار وصول كوي .

(۱۲۲)كه مولى دخپلې مينځې نكاح له كوم كس سره وكړه نو پر مولى باندي تبويت لازم نه دى يعنى دخاوند په كور كې دمينځې شپه تيرول لازم نه ده بلكه مينځه به دخپل مولى خدمت كوي او خاوند ته به وويل شي چې كله هم موقع پيدا كړي وطى كوه ولى چې دمولى حق دمينځې په رقبه اومنافع (ماسواله منفعت بضع څخه)دواړو كې شته كوم چې كثيردى حال دا چې دزوج حق صرف په منافع كې ده كوم چې قليل

دي اودکثیرابطال دحصول قلیل لپاره جائزنه دی خاص کرکله چې دقلیل حصول بغیرابطال کثیرممکن هم وي.

ف:په مذکوره صورت کې که مولی مینځې ته له خاوندسره دشب باشي کولواجازت ورکړنودمینځې نفقه اوسکنی به اوس پرخاوندباندي لازمه وي اوکه مولی اجازت ورنه کونونفقه اوسکنی به دمولی پرذمه وي ولې چې نفقه داحتباس په عوض کې واجبیږي لهذاکه احتباس نه وي نونفقه به هم لازمه نه وي .اوکه مولی دشب باشي اجازت ورکړبیادده رأیه بدله شوه نوده لره دااختیارشته چې دشب باشي اجازت منسوخ کړي ولې چې دبقاء ملک په وجه سره دمولی حق خدمت اوس هم باقي دی لکه څرنګه چې په نکاح ورکولوسره دمولی حق نه ساقطیږي په شب باشي سره به هم نه ساقطیږي.

(۱۲۳)وَلَهُ إِجْبَارُهُمَا عَلَى النِّكَاحِ(۱۲۴)وَيَسْقُطُ الْمَهْرُ بِقَتْلِ السَّيِّدِ أَمَتَهُ قَبْلَ الْوَطْءِ(۱۲۵)لَا بِقَتْلِ الْحُرَّةِ نَفْسَهَا قَبْلَهُ(۱۲۶)وَالْإِذْنُ فِي الْعَزْلِ لِسَيِّدِ الْأَمَةِ

ترجمه:اومولی لره جائزده مجبورکول دغلام اومینځې په نکاح کولوباندي ،اوساقطیږي مهردمولی په قتل کولوسره خپلې مینځې لره له وطی څخه وړاندي ،نه ده ازادي ښځې دخپل ځان په قتل کولوسره له وطی څخه وړاندي ،اواجازت دعزل په باره کې دمینځې مولی لره حاصل دی.

تشریح:(۱۲۳)قوله وله اجبارهماعلی النکاح ای وللمولی اجبار العبدوالامة علی النکاح ،یعنی مولی لره داحق حاصل دی چې دی خپل غلام اومینځه په نکاح مجبورکړي یعنی ددوئ له رضامندي بغیرددوئ نکاح نافذیږي ولې چې دمولی خپل غلام ته نکاح کول دخپل ملک اصلاح ده ولې چې په نکاح کولوکې غلام له زناڅخه ساتل دي کوم چې دهلاک اونقصان سبب دی ځکه چې دزناپه نتیجه کې پرده حدجاري کیږي کوم چې کله دهلاکت اوکله دنقصان سبب جوړیږي لهذامولی غلام لره په نکاح دمجبورکولوحق لري.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزدکه مولی دغلام نکاح دده له خوښې څخه بغیروکړه نودانکاح نه نافذیږي ولې چې کوم امورچې له خصائص ادمیت څخه دي دهغوپه باره کې غلام په خپل اصل رأیه قائم ده دهغوپه اعتبارسره غلام مملوک نه دی اونکاح له هغوامورو څخه دی ولې چې غلام دمالک په ملکیت کې دمالیت په اعتبارسره داخلیږي دکوم چې له نکاح سره هیڅ تعلق نشته لهذاغلام دنکاح په اعتبارسره له خپل مولی څخه اجنبی دی په دي وجه به مولی لره په دي اعتبارسره دتصرف حق نه وي .همداراز دانکاح غیرمفیدده ځکه چې غلام لره فی الحال دطلاق ورکولواختیارشته نودعدم رضاپه وجه سره به دی فی الحال طلاق ورکړي ،البته که یې دمینځې نکاح ددي له رضاڅخه بغیروکړه نودانافذیږي ولې چې دمینځې بضع دمولی مملوک ده ځکه نومولی لره اختیارده چې دي داکوم بل چاپه ملک کې ورکړي.

(۱۲۴)که مولی دخپلې مینځې نکاح له چاسره وکړه بیاقبل الوطی مولی خپله مینځه قتل کړه نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددمینځې مهرساقطیږي ولې چې دمن له الحق یعنی مولی په فعل سره معقودعلیه له تقرراوستحکام څخه وړاندي فوت شولهذامن له الحق ته به اوس ددی حق دوصول کولوحق نه وي،همداراز قتل داحکام دنیاپه اعتبارسره اتلاف شمارل کیږي همداوجه ده چې پرقاتل باندي قصاص اودیت واجبیږي اوقاتل دمقتول له میراث څخه محرومیږي.

ف :صاحبين فرمايي چې پرخاوندباندي د دي مولی لره مهرواجب دی ،صاحبين دا صورت قياسوي د مينځې پرخپل مرګ په مړه کيدلو باندي ولی چې مقتول په خپل مرګ سره مرکيږي نولکه څرنګه چې که مينځه پرخپل مرګ مړه کيده نو دمولی لپاره مهرواجبيږي همداشان که مولی مينځه قتل کوي نوهم به مولی لره مهرواجب وي ،صاحبينوته ځواب ورکړل شوی دی چې مقتول بې شکه په خپل مرګ مرکيږي ليکن قتل ددنيوی احکامو په اعتبارسره اتلاف شمار ل کيږي په همدي وجه خو په قاتل باندي قصاص اوديت واجبيږي نو په وجوب مهرکې به قتل اتلاف شمارل کړل شي .

ف :دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی لان قوله قول المتون وايضا اخر صاحب الهداية دليله وهذا ترجيح لقول الراجح عنده .

(۱۲۵)قوله لايقتل الحرة نفسها قبله اي لا يسقط المهر بقتل الحرة نفسها قبل الوطی ،يعنی که ازادي ښځې خپل ځان په خپله قتل کړنو دائمه ثلاثه په نزد دي ښځې لره به مهرمثل واجب وي ولی چې دانسان پرخپل نفس باندي جنايت کول داحکام دنيا په اعتبارسره معتبرنه دی که څه هم په اخرت کې به مواخذه وي همدا وجه ده چې په دنياکې خودکشي کونکی ته غسل ورکول کيږي او دده دجنازي لمونځ اداء کيږي نو خودکشی په خپل مرګ له مرکيدلوسره مشابه ده او په خپل مرګ دمړه کيدلو په صورت کې په خاوند مهرواجبيږي نو دخودکشی په صورت کې به هم مهر په خاوند واجب وي .

دعزل اوضبط ولادت بيان

(۱۲۶)که چاله مينځې سره نکاح وکړه نو دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دعزل (بوقت انزال منی له فرج څخه دباندي توېول) کولو اجازه دمولی په اختيارکې ده ولی چې عزل مقصوديعنی ولدلره مخل دی او ولد دمولی حق دی دمينځې حق نه دی لهذ خاص دمولی دخوښي اعتبار به کيږي .

ف :دصاحبينو په نزد دعزل اجازت دمينځې په اختيارکې دی ولی چې وطی دمنکوحه مينځې حق دی حتی چې دوطی دمطالبې ولايت مينځې لره حاصل دی او په عزل کولوسره دمينځې دحق کمول دي لهذا دي له خوښي څخه بغيرعزل جائزنه دی ،همدارز نکاح په دي وجه سره مشروع ده ترڅوله زنا څخه محفوظ شي او دا هغه وخت وي کله چې دواړولره دقضاء شهوت حق حاصل وي حال دا چې عزل په قضاء شهوت لره مخل دی څکه نودمنکوحه مينځې رضامندی شرط ده. صاحبينو ته ځواب ورکړل شوی دی چې مينځې لره دقضاء شهوت حق حاصل نه دی ولی دمينځې نکاح نه ابتداء دمينځې لپاره مشروع ده او نه بقاء همدا وجه ده چې مينځه له خپل مولی څخه دا مطالبه نشي کولی چې ما په نکاح ورکړه .

ف :دضبط ولادت په باره کې دحضرت شيخ الاسلام مفتي محمد تقي عثماني صاحب دامت برکاتهم يو وقيع مضمون ملاحضه کړئ ،فرمايي :زموږ په زمانه کې چې دخانداني منصوبه بندي يا ،برته کنټرول په نامه سره کوم تحريک روان دی دهغه په عدم جوازکې شبه نشته ،اول خو په دي وجه چې دضبط ولادت اجازت چې په کوموم مقاماتو کې ثابت دی دهغه حاصل په انفرادي طورسره ضبط ولادت کول دي ليکن دي لره يو عام عالمګير تحريک جوړل صحيح نه دی ،دوهم ددي تحريک غرض هم فاسد دی ولی چې ددي منشاء ،خشيت

املاق (دمفلسې اندیښنه)ده اودامنشاء بنص قراني فاسده ده لکه چې دالله تعالی ارشاددی ﴿ولاتقتلوا اولادکم خشية املاق﴾ په دې کې دافهمول غلط دي چې داحکم په قتل اولادپورې مخصوص دی ولی چې الله تعالی د ،خشية املاق په الفاظوسره ددې فعل دشناعت یوعام حکم هم بیان فرمایلې دی چې هرهغه عمل چې له هغه څخه بخوف مفلسې تحدیدنسل کیږي هغه ناجائزدی .

په اصل کې داتحریک دالله تعالی دنظام ربوبیت په خپل لاس کې داخیستلومترادف دی ،حال داچې دالله تعالی ارشاددی ﴿ومامن دابة فی الارض الاعلی الله رزقها﴾اوقانون قدرت دادی چې په هردورکې دپیداور مقداردهغه دوردضروریاتومطابق وي ،مثلاً په پخوازمانه کې ټول سفرونه په اسانوغیره باندي کیدل په هغه دورکې ددې قسم په سفرکې کاریدونکې ځارویوتعداددیرزیات وو اواوس څرنګه چې سفرپه نوروموټرانوکیږي دهغونسل هم کم شو ،همداشان په پخوازمانه کې دپټرول وغیره ضروریات محدودوو مثلاً دهغواستعمال دخارش زده اوښ په جسم باندي دعلاج په طورسره کیدوپه هغه دورکې ددې پیداکیدل هم ډیرلږوو اواوس ټول ژوندپه پټرولوراڅرخې نوځکې هم ددې خزانې راایستلې دي، همدا حقیقت الله ﷻ په دې ایت کې واضح فرمایلي دی﴿وان من شئ الاعندنا خزائنه ومانتزله الابقدرمعلوم﴾او ﴿اناکل شئ خلقناه بقدر﴾ همدارازارشاددی﴿ولوبسط الله الرزق لعباده لبغوا فی الارض ولکن ینزل بقدرمایشاء﴾ .

تاریخ ددې ګواه دی چې دضروریاتومطابق دوسائلو دپیداوارنظام دقدرت له طرفه کیږي ، حقیقت دادی چې دضبط ولادت داتحریک هم په کوم معقول بنیادباندي قائم نه دی بلکه محض یوسیاسي فریب دی .

اوس خوسوکه سوکه دمعاشیاتوماهرین هم ددې نتیجې لورته رارواڼ دي چې دخاندانې منصوبه بندې داتحریک نهایت مضرت رسونکی دی اوپه معاشي طورسره ددې هیڅ ضرورت نشته ،ددې مسئلې مزیدتفصیل داحقرپه رساله ،ضبط ولادت کې عقلي اوشرعي حیثیت ،کې موجوددی .والله اعلم (درس ترمذی :۳/ ۴۲۴)

ف:دضبط تولیداواسقاط حمل په مجموعې ډول سره څلورصورتونه جوړیږي (۱)قطع نسل یانس بندي،مثلاً اپریشن په ذریعه سره بچه دانی خارجول په کوم سره چې په دائمې ډول باندې قوت تولیدختم کیږي داصورت بالاتفاق حرام دی خواه که ددې څومره هم فوائدپه نظرراځي خواه که څومره هم قوی داعی ددې موجودوي ،زیات ترزیات دعذربه وي چې ښځه کمزوري ،یاناروغه اودحمل متحمله نه ده نوڅرنګه چې ددې متبادلې لاري موجودي دي په دې وجه داصورت اختیارول جائزنه دی .(۲)مانع حمل تدبیر،یعنی کومه داسې دوایې استعمالول چې دقوت تولیدله باقی پاتې کیدلوسره سره حمل قرارونه نیسي ددې صورت حکم دادی چې بلاعذرددی اجتیارول مکروه تنزیهی دی ،هوکه ښځه ناروغه وي یادیره کمزوري وي چې دحمل متحمله نه وي یاپه کوم اوږده سفرکې وي یادزوجینو ... تعلقاتودناسموالي په وجه سره دجلاوالي قصدوي یاله وړاندي څخه دموجود بچی دصحت دخرابیدلوشدیده خطره وي نوددې اعذاروپه وجه سره کوم داسې تدبیرکول چې حمل قرارونه نیسي بلاکراهت جائزدی.(۳)دروح اوژونداثارولو پیداکیدلوڅخه وړاندي اسقاط حمل،یعنی دحمل اخیستلوڅخه وروسته

دځلورو میاشتو له پوره کېدلو څخه وړاندې په کومه ذریعه سره حمل ساقطول دا صورت بلا عذر ناجائز او حرام دی ،البته دعذر په وجه سره ددې ګنجائش شته مثلاً دحمل په وجه سره ددې ښځې شیدې وچې شوې او په نورو ذرائعو سره دماشوم بچي دپالنې انتظام ناممکن یا متعذر وي ، یا کوم دیندار ،ماهره ښځه معاینه وکړي او داووايي چې له اسقاط حمل څخه بغیر دښځې ژوند یا کوم اندام ته شدیده خطره ده نوددا سې اعذارو په وجه سره اسقاط حمل جائز دی.(۴)دروح اوژوندانه داثارو له پیدا کېدلو څخه وروسته اسقاط حمل ،یعنی پر حمل باندې له څلورو میاشتو تېرېدلو وروسته حمل ساقطول،دا صورت مطلقاً حرام دی په هیڅ عذر سره ددې ګنجائش نشته.(احسن الفتاوی ،۳۴۷/۸بتغییر)

(۱۲۷)وَلَوْ أُعْتِقَتْ أَمَةٌ أَوْ مُكَاتَبَةٌ خُيِّرَتْ وَلَوْ زَوْجُهَا حُرًّا(۱۲۸)وَلَوْ نُكِحَتْ بِلَا إِذْنٍ فَعَتَقَتْ نَفَذَ بِلَا خِيَارٍ(۱۲۹)فَلَوْ وَطِئَ قَبْلَهُ فَالْمَهْرُ لَهُ وَإِلَّا فَلَهَا

ترجمه :او که ازاده کړای شوه مینځه یا مکاتبه نو دې لره به اختیار ورکول کیږي که څه هم ددې خاوند ازاد وي ،او که دې نکاح وکړه بې له اجازې بیا دا ازاده شوه نو نکاح به نافذیږي بې له خیاره ،نو که وطی کړي وي له دې څخه وړاندې نو مهر به مولی لره وي که نه نو مینځې لره به وي .

تشریح :(۱۲۷)که مینځې یا مکاتبې دخپل مولی په اجازه سره نکاح وکړه بیا دا مینځه یا مکاتبه ازاده کړی شوه نو دا حنافو په نزد دا سې مینځې لره اختیار دی که یې خوښه وي نو نکاح دې برقرار پرېږدي او که یې خوښه وي نو نکاح دې فسخ کړي او عام ده که دا ازادي پروخت خاوند ازاد وي او که غلام دمینځې دې اختیار لره په اصطلاح کې خیار عتق ویل کیږي.ددې اختیار دجواز وجه دحضرت عائشه ﷺروایت دی فرمایي چې نبی کریم ﷺحضرت بریره ﷺته اختیار ورکړ او دحضرت بریره ﷺ خاوند ازاد و کوم وخت چې دا ازاده کړي شوه .

ف:دامام شافعي او امام مالک رحمهما الله تعالی په نزد دا ازادي پروخت که خاوند ازاد وي نو دې لره خیار عتق نشته او که په دې وخت کې خاوند غلام وو نو مینځې لره به خیار عتق حاصل وي ولې چې له حضرت عائشې ﷺ روایت دی ﴿ان النبی ﷺ خیرها وکان زوجها عبدا﴾(یعنی نبی کریم ﷺ حضرت بریره ﷺ ته خیار عتق ورکو په دې حال کې چې ددې خاوند غلام وو)لهذا که خاوند ازاد وو نو دې لره اختیار نشته . احناف ځواب ورکوي چې په مذکوره روایت کې دا نشته چې که خاوند ازاد وو نو ازاد شده مینځې لره خیار عتق نشته.لهذا په دې روایت سره ددوئ استدلال صحیح نه دی.

(۱۲۸)که مینځې دمولی له اجازت څخه بغیر نکاح وکړه بیا ازاده کړی شوه نو نکاح صحیح ده ولې چې رکن نکاح یعنی ایجاب او قبول ددې له اهل څخه صادر شوی دی ځکه چې مینځه دعاقله بالغه والی په وجه سره له اهل عبارت څخه ده باقي دمولی دحق په وجه سره ممنوع وه کوم چې اوس دازادکولو په وجه سره زائل شو لهذا دا نکاح صحیح ده ،البته مینځې لره به خیار عتق نه وي ولې چې په مذکوره صورت کې دمولی له طرف څخه دهیڅ قسم جبر بغیر دی دا خاوند اختیار کړی دی لهذا دې لره به خیار عتق هم حاصل نه وي .

(۱۲۹)که مینځې دمولی له اجازت څخه بغیر نکاح وکړه بیا خاوند له دې سره وطی وکړه له دې څخه وروسته مولی خپله دا مینځه ازاده کړه نو ټول مهر به مولی لره وي ولې چې خاوند دا سې منافع حاصلې کړي دي کومې چې دمولی مملوک دي لهذا دهغو بدل یعنی مهر به هم مولی لره واجب وي .قوله والا فلها ای وان لم

بطاء‌ها الزوج حتی اعتقها فالمهر لها، یعنی که خاوند دمولی له ازدولوڅخه وروسته له مینځې سره وطی وکړه نومهربه ازادې شوي مینځې لره وي ولی چې په دي صورت کې خاونداسې منافع وصول کړي دي کومې چې دمینځې مملوک دي لهذا دهغوبدل یعنی مهربه هم مینځې لره واجب وي.

(۱۳۰)وَمَنْ وَطِئَ أَمَةَ ابْنِهِ فَوَلَدَتْ فَادَّعَاهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ وَصَارَتْ أُمَّ وَلَدِهِ (۱۳۱) وَعَلَيْهِ قِيمَتُهَا لَا (۱۳۲) اعُقْرُهَا وَ قِيمَةُ وَلَدِهَا (۱۳۳) وَدَعْوَةُ الْجَدِّ كَدَعْوَةِ الْأَبِ حَالَ عَدَمِهِ (۱۳۴) وَلَوْ زَوَّجَهَا أَبَاهُ وَوَلَدَتْ لَمْ تَصِرْ أُمَّ وَلَدِهِ وَيَجِبُ الْمَهْرُ لَا الْقِيمَةُ وَوَلَدُهُ حُرٌّ

ترجمه:اوچاچې وطی کړه دخپل زوی مینځه نودهغې بچې پیداشوا وپلاردعوه وکړه دبچی نوثابتیږي دده نسب له ده څخه اوګرځې مینځه دده ام ولد،اوپرده دمینځې قیمت واجب دی ،نه ددی مهراوددي بچی قیمت ،اودنیکه دعوه دپلاردعوې په شان ده دپلارد نه موجودوالی په وخت کې ،اوکه زوی له پلارسره ددی نکاح وکړه اوبچی پیداشووهغه به دده ام ولدنه وي اومهربه واجب وي نه قیمت اوبچی ازاددي.

تشریح:(۱۳۰)که چاد خپل زوی له مینځې سره وطی وکړه اوله دي څخه دمدت حمل له تیریدلو څخه وروسته بچې پیداشوبیادده دعوی وکړه چې دابچې زماڅخه دی نودبچی نسب له واطی څخه ثابتیږي اوبچی موردواطی ام ولدګرځې خواه که دواطی زوی (دمینځې مالک)دده تصدیق وکړي اوکه یې ونه کړي ولی چې پلارلره داولایت حاصل دی چې دی دخپل ځان دبقاء لپاره دخپل زوی دمال مالک شې لقوله ﷺ﴿ أنت ومالک لأبیک﴾(ته اوستامال ستادپلاردي)نوپلارلره به داولایت هم حاصل وي چې دبقاء ماء اونسل لپاره دخپل زوی دمینځې مالک شي.

ف:دپلاردعوې لپاره دوشرطونه دي یوداچې پلاربه ازادمسلمان وي که هغه غلام یامکاتب یاکافروو نودده دعوی صحیح نه ده ،دوهم شرط دادی چې پرتوله مینځه به دعلوق له وخت څخه بیاددعوی تر وخت پوري دابن ملک قائم وي څوک به له ده سره شریک نه وي.

(۱۳۱)قوله وعلیه قیمتها ای علی الاب قیمة الجاریة ،یعنی دعلوق پروخت چې دمینځې څومره قیمت دی په پلارباندي هغه لازم دی که څه هم پلارتنګ دسته هم وي ترڅوبقدرالامکان دزوی مال محفوظ وي اودپلارمقصود هم حاصل وي ،همداراز دبقاء نسل حاجت دبقاء نفس ترحاجت کمتردی لهذا پلاردزوی دخورک څښاک دشیانو خوبلاقیمته مالک کیږي مګردمینځې قیمت به ورکوي په قیمت اداء کولوسره مالک ګرځي.

(۱۳۲)قوله لاعقرها ای لایجب علی الاب عقرالامة ،یعنی په پلارباندي ددي مینځې مهرنه واجبیږي ولی چې پلارددي مینځې مالک ګرځي په دي وجه پرده باندي له دي سره دوطی کولوپه وجه مهرنه لازمیږي .اوپه پلارباندي به له دي مینځې څخه دپیداشوی بچی قیمت هم لازم نه وي ولی چې له مینځې سره له وطی کولوڅخه لږوخت وړاندي دامینځه ضرورة دده په ملک کې راځي ترڅودپلاردافعل حرام واقع نه شي نوثابته شوه چې ده وطی په خپل ملک کې کړي ده لهذابچی حمل دپلارپه ملک کې قرارنیولی دی په دي وجه دی اصلاحردی دده قیمت ورکول لازم نه دی.

(۱۳۳)اوکه پلارنه وو یعنی فوت شوی وو یالیونی شوی وو نودنیکه دنسب دعوی داسې ده لکه دپلارد نسب دعوی، یعنی له نیلکه څخه یې دپلارپه شان نسب ثابتیږي اومینځه دده ام ولدکیږي ولی چې

دفقدان اب په صورت کې دنیکه ولایت ظاهره کیږي ،او که نیکه دخپل لمسی له مینځې سره وطی وکړه او په دامایینو کې پلار هم ژوندی نو له نیکه څخه نسب نه ثابتیږي ولی چې دپلار په موجود والی کې جدلره ولایت حاصل نه وي .

(۱۳۴)که زوی دخپلې مینځې نکاح له پلار سره وکړه بیا دپلار له نطفې څخه دمینځې بچی پیداشونو دامینځه به دپلار ام ولدنه وي او په پلار باندي به زوی لره ددي قیمت واجب نه وي هو په پلار باندي به مهر واجب وي او ددي مینځې هغه اولاد چې دپلار له نطفې څخه پیداشوی به ازدوي .ځکه چې دانه من کل الوجوه دپلار ملک ده اونه من بعض الوجوه بلکه من کل الوجوه دزوی ملک ده لهذا له دی سره دپلار نکاح کول صحیح ده کله چې نکاح صحیح شوه نودامینځه به دپلار ام ولدهم نه وي لهذ په پلار باندي دمینځې قیمت یاددي داولاد قیمت هم واجب نه وي البته پلار ځکه چې له دي سره په نکاح کولو پر خپل ځان باندي دمهر التزام کړی دی په دي وجه به په پلار باندي دمینځې مهر واجب وي . او دمینځې اولابه ازادوي وجه یې داده چې دمینځې اولاد دمولی ملک وي او دلته مولی له مینځې څخه دپیداشوی بچی ورور دی او قاعده ده چې څوک دخپل محرم مالک شي هغه ازادیږي لقوله ﷺ ﴿من ملک ذا رحم محرم منه عتق علیه﴾(څوک چې مالک شي دخپل ذی رحم محرم هغه پر ده ازادیږي).

(۱۳۵)حُرَّةٌ قَالَتْ لِسَيِّدِ زَوْجِهَا أَعْتِقْهُ عَنِّي بِأَلْفٍ فَفَعَلَ فَسَدَ النِّكَاحُ (۱۳۶)وَلَوْ لَمْ تَقُلْ بِأَلْفٍ لَا يَفْسُدُ وَالْوَلَاءُ لَهُ

ترجمه :یوې ازادې ښځې دخپل خاوند مولی ته وویل چې دی ازاد کړه زما له طرف څخه دزرو په عوض نو هغه ازاد کړ نو فاسدیږي نکاح ،او که یې داونه ویل چې دزرو په عوض نو نه فاسدیږي نکاح او ولاء به مولی لره وي .

تشریح :(۱۳۵)که کومه ازاده ښځه دکوم غلام په نکاح کې وي او ښځې دخپل خاوند مولی ته وویل چې داغلام زما له طرف څخه دیو زردرهمه په عوض کې ازاد کړه نو که مولی ازاد کو نو دائمه ثلاثه په نزدددوئ نکاح فاسده شوه ولی چې ازادي دآمر له طرف څخه واقع شوه ګویاآمر وویل بعه منی بالف هم کن وکیلی بالاعتاق (داغلام په ماخرڅ کړه بیازما له طرفه دده دازادولو وکیل جوړشه)او دمولی داقول اعتقت ،په منزله دبعته منک واعتقته عنک (داغلام ماپه تاخرڅ کړاوستا له طرفه مې ازاد کو)دی ،او آمر دلته دازادشوی ښځه ده نوله ازادي څخه وړاندي ښځه دخپل خاوند دمالکې دجوړیدلو په وجه سره نکاح فاسده شوه ولی چې په دواړو ملکونو (یعنی مِلک نکاح او مِلک رقبه)کې منافات دی .

(۱۳۶)او که ښځې دخپل خاوند مولی ته وویل چې دی زما له طرفه ازاد کړه او بالف یې ونه ویل یعنی مال یې ذکر نه کو نو دطرفینو په نزدنکاح فاسده نه شوه حال داچې دامام ابویوسف رحمه الله په نزدپه دي صورت کې هم دسابقه صورت په څیر نکاح فاسدیږي .دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دادی چې ځکه چې په تیر شوی صورت کې موږ اقتضاء بیع مقدره ګرځوله هم داشان به دلته هم تملیک بلاعوض یعنی هبه مقدره ګرځوو نو ګویا ښځې دخاوند مولی ته وویل ،اول دی ماته هبه کړه بیازما له طرفه په وکیل جوړیدلو سره دی ازاد کړه مولی وویل اعتقت یعنی ما ولاداغلام تاته هبه کو بیاستاله طرفه وکیل جوړشوم اودی مې

ازادکړ.دطرفينودليل دادی چې دښځې داويل چې اعتقه مني اودمولی داويل اعتقت هبې لره متضمن نه دي ولی چې په هبه کې قبض شرط دی کوم چې دلته نه شوموجودلهذادا دښځې له طرفه دخپل خاونددازادي لپاره يودرخواست دی نه بيع اونه هبه ده ،نوغلام دښځې په ملک کې له راتلوڅخه بغيرازاديږي ځکه نکاح برقراره ده .

يادطرفينوپه نزدپه دي صورت کې دازادشوی غلام ولامعتق يعنی مولی لره ده ولی چې داعتاق وقوع په دي صورت کې دمولی له طرفه شوي ده ،حال داچې دامام ابويوسف رحمه الله په نزدولاءښځې لره ده ولی چې دده دمسلک مطابق داعتاق وقوع دښځې له طرفه شوي ده .

ف:فتوی دطرفينوپرقول ده ،لان قولهما قول المتون,وايضااخرصاحب الهداية دليلهماوهذاعنده ترجيح قول الراجح.

بَابُ نِكَاحِ الْكَافِرِ

داباب دکافردنکاح په باره کې دی .

مصنف رحمه الله اول دغلامانودنکاح احکام بيان کړل اوس دکافردنکاح احکام بيانوی دکافردنکاح ديبان دموخرکولووجه داده چې دغلام حال له کافرڅخه اعلی دی اوکافرادنی دی لقوله تعالی ﴿ولعبدمومن خيرمن مشرك ولواعجبكم﴾(اوالبته غلام مسلمان بهتردی له مشرک څخه که څه هم هغه تاسې ته ښه معلوم شي).

ف:ددي باب مسائلې په دريواصولوباندي مبنی دي (۱)کومه نکاح چې ددومسلمانانوترمنځ صحيح ده هغه به ددوکافرانوترمنځ هم صحيح وي لقوله تعالی ﴿وامراته حمالة الحطب﴾ باری تعالی دکافرطرفه ته دښځې نسبت کړي دی وقال ﷺ ﴿ولدت من نکاح لامن سفاح﴾(زه له نکاح څخه پيداشوی يم نه له زناڅخه) (۲)کومه نکاح چې دمسلمانانوترمنځ دفقدان شرط په وجه سره فاسده وي مثلاًگواه نه وي دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددکفارودناسې نکاح جائزده په دي شرط چې ددوئ دعقيدې مطابق وي ،اوله اسلام راوړلوڅخه وروسته به دوئ په همدغه نکاح برقرارپريښودل کيږي(۳)کومه نکاح چې دحرمت محل په وجه سره حرامه وي مثلاله خوروغيره سره نکاح وکړي نويوقول داډی چې دانکاح ددوئ په منځ کې جائزه ده مگردمشائخ عراق په نزدداسې نکاح به فاسده وي .

(۱۳۷)وَزَوَّجَ كَافِرٌ بِلَا شُهُودٍ أَوْ فِي عِدَّةِ كَافِرٍ وَذَا فِي دِينِهِمْ جَائِزٌ ثُمَّ أَسْلَمَا أُقِرَّا عَلَيْهِ(۱۳۸)وَلَوْ كَانَتْ مَحْرَمَهُ فُرِّقَ بَيْنَهُمَا(۱۳۹)وَلَا يَنْكِحُ مُرْتَدٌّ أَوْ مُرْتَدَّةٌ أَحَدًا

ترجمه :نکاح وکړه کوم کافرله گواهانوڅخه بغيريادبل کافرپه عدت کې اودادوئ په دين کې جائزوو بيادواړواسلام قبول کړنوبرقرار به پريښودل کيږي دوئ دواړه پرهمدغه نکاح باندي ،اوکه محرمه وه نوتفريق به کيږي ددوئ په منځ کې ،اونکاح دي نه کوي مرتدسړی يامرتده ښځه له هيچاسره.

تشريح:(۱۳۷) که کوم کافرله کافري ښځې سره بغيرله گواهانونکاح وکړه يابښځه دکوم بل کافرپه عدت کې وه هغه نکاح ورسره وکړه اوحال داچې په داشان نکاح کول ددوئ په دين کې جائزه وه بيازوجين دواړه مسلمانان شول نودامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دادی چې دواړه به پرهمدي نکاح پريښودل کيږي ولی چې

دنكاح پروخت دحق شرع لپاره حرمت ثابتول ممكن نه دي ځكه چې كفارپه فروعوسره مخاطب نه دي ،اونه دزوج دحق لپاره حرمت ثابتيږي ولى چې ددي زوج دحرمت اعتقادنه لري ،نوثابته شوه چې ددوئ ترمنځ په دي ډول سره نكاح كول ابتداء صحيح ده نوبقاء به هم صحيح وي ولى چې دبقاء په حالت كې دګواهانووجودشرط نه دى همداوجه ده چې له نكاح څخه وروسته دګواهانوپه مرګ سره نكاح نه باطليږي ،همداشان عدت له حالت بقاء دنكاح سره منافي نه دى .

(۱۳۸)قوله ولوكانت محرمة فرق بينهما اى ولوكانت منكوحة الكافرمحرمة للزوج فرق بينهما،يعنى كه كوم كافردخپل محارمو ابديه سره نكاح وكړه مثلامجوسي (اتش پرست)له خپلې موريا خپلې لورسره نكاح وكړه بيادوئ دواړه يايو مسلمان شو،يادكفرپه حالت كې دواړوكوم مسلمان حاكم ته مقدمه پيښ كړه نوپه دواړوكې به تفريق كيږي ولى چې ښځه دمحرميت په وجه سره محل نكاح نه ده اوكوم حكم چې دمحل طرف ته راجع كيږي په هغه كې ابتداء اوبقاء برابردي نولكه څرنګه چې ابتداء دا ښځه دده لپاره محل نكاح نه ده همداشان له اسلام څخه وروسته هم هغه محل نكاح نه ده .

ف :دامام صاحب دقول صحيح مطابق داډول نكاح ددوئ په منځ كې صحيح ده حتى كه له دواړوڅخه كوم يوه له قاضي څخه دتفريق غوښتنه وكړه نوقاضى به ددوئ په منځ كې تفريق نه كوي اوكه ښځې دنفقې مطالبه وكړه نوقاضى به ددي لپاره دنفقې حكم كوي .دصاحبينوپه نزدددوئ په منځ كې په دي ډول سره نكاح باطله ده البته له مرافعې اواسلام راوړلوڅخه وړاندي موږدوئ لره اعراضاتعرض نه كوو نه تقريرا ،همدايوروايت له امام صاحب رحمه الله څخه هم دى .

(۱۳۹)مرتدكس له يوي ښځې سره هم نكاح نشي كولى نه له مسلمانې ښځې سره اونه له كافري ښځې سره اونه له مرتدې سره ولى چې مرتدخوواجب القتل دى ده ته چې كوم مهلت وركول كيږي هغه صرف ددي لپاره چې ترڅودى غور اوفكروكړي ،همداشان مرتده ښځه هم نكاح نشي كولى نه له مسلمان سره اونه له كافرسره اونه له مرتدسره ولى چې مرتده هم دغوراوفكرلپاره محبوسه وي.

(۱۴۰)وَالْوَلَدُيَتْبَعُ خَيْرَ الْأَبَوَيْنِ دِينًا(۱۴۱)وَالْمَجُوسِيُّ شَرٌّ مِنَ الْكِتَابِيِّ(۱۴۲)وَإِذَاأَسْلَمَ أَحَدُالزَّوْجَيْنِ عُرِضَ الْإِسْلَامُ عَلَى الْآخَرِ فَإِنْ أَسْلَمَ(۱۴۳)وَإِلَّا فُرِّقَ بَيْنَهُمَا وَإِبَاؤُهُ طَلَاقٌ(۱۴۴)لَا إِبَاؤُهَا

ترجمه :اوبچى به تابع وي په موراوپلاركې دهغه كوم چې بهتروي ددين په اعتبارسره ،اومجوسي بددى تريهودى ،اوكه اسلام قبول كوله زوجينوڅخه كوم يوه نوپيش به كړاى شي اسلام پرهغه بل باندي نوكه هغه اسلام قبول كړنوبهترده ،كه نه نو تفريق به وكړاى شي ددواړوترمنځ اودخاوندانكاركول طلاق دى نه دښځې انكاركول.

تشريح :(۱۴۰)ولدپه موراوپلاركې چې كوم يوددين په اعتبارسره ښه وي دهغه تابع وي مثلاكه احدالزوجين مسلمان وي اوبل كافروي نوبچى به دمسلمان پردين وي ولى چې په دي كې دبچي لپاره په دنيااواخرت كې نظرشفقت دى په دنياكې خوداچې له ده سره به دكافرانوپه شان سلوك نه كيږي اوپه اخرت كې داچې دجهنم له عذاب څخه به نجات ومومي.

(۱۴۱)مجوسی اوبت پرست له اهل كتاب څخه ډيربدي ولی چې اهل كتاب په احكاموكې مسلمانانوته ډيرقريب دي په دي وجه چې له كتابيه ښځې سره نكاح جائزده همداشان داهل كتاب ذبيحه جائزده حال داچې له مجوسی اوبت پرست سره نه نكاح جائزده اونه ددوئ ذبيحه حلاله ده لهذاكه له زوجينوڅخه يواهل كتاب وو اوبل مجوسی يابت پرست وو نوبچی به كتابی وي ولی چې په دي كې دبچی لپاره يوقسم شفقت دی .

(۱۴۲)كه له زوجينوڅخه يومسلمان شومثلاښځه مسلمانه شوه اوددي خاوندكافروونوكه مجنون ياكوچنی نه وي اوپه اسلام پوهيږي نوقاضی به خاوندته اسلام پيښ كړي كه دقاضی په اسلام پيښولوسره خاوندمسلمان شونوفبهاونعمت، يعنی داښځه به دده ښځه وي اونكاح به بدستورقائمه وي ولی چې منافی نكاح نه دی موجودشوی .

(۱۴۳)قوله والافرق بينهماواباءه طلاق ای وان لم يسلم الاخرفرق بين الزوجين واباء الزوج عن الاسلام طلاق ،يعنی كه هغه بل له اسلام قبلولوڅخه انكاروكړنوددي دوه صورتونه دي يوداچې هغه بل خاونددوي يعنی خاوندله اسلام قبلولوڅخه انكاروكړنوقاضی به ددوئ دواړوترمنځ تفريق كوي ولی چې مسلمانه ښځه دكافرپه نكاح كې پاتې كيدل جائزنه دي ،دوهم صورت دادی چې انكاركونكې ښځه وي يعنی دخاوندله مسلمانيدلوڅخه وروسته پرښځه اسلام پيښ كړل شومګردي له اسلام قبلولوڅخه انكاروكړ نوكه ښځه مجوسی يابت پرسته وغيره وه نوقاضی به ددوئ ترمنځ تفريق وكړي ولی چې له كتابی ماسواله نوروكافروښځوسره دمسلمان كس نكاح جائزنه ده اوكه ښځه اهل كتاب وه نوقاضی به ددوئ ترمنځ تفريق نه كوي ولی چې كتابيه ښځه دمسلمان كس په نكاح كې پاتې كيدل صحيح دي .

دزوج په طرف كې له اسلام څخه دانكارپه نتيجه كې چې قاضی كوم تفريق وكړي نوداتفريق دطرفينوپه نزدطلاق بائن دی ولی چې دخاوندله طرفه امساك بالمعروف فوت شولهذاتسريح بالاحسان متعين دی اوتسريح بالاحسان كې قاضی دخاوندقائم مقام دی .دامام ابويوسف رحمه الله په نزدداتفريق طلاق نه دی بلكه دنكاح فسخ ده ولی چې دايوداسی فعل دی كوم چې دښځې له طرفه هم متصوردی اوكوم فعل چې دښځې له طرف څخه هم متصوروي په هغه سره طلاق نه واقع كيږي.

ف:دطرفينوقول مفتی به دی لمافی الدرالمختار:(واباء المميزواحدابوی المجنون طلاق)فی الاصح،وقال ابن عابدين :تحت قوله فی الاصح يشيرالی انه فی غيرالاصح يكون فسخاابوالسعود.(الدرالمختارمع الشامية:۲/۳۲۳)

(۱۴۴)قوله لااباءهاای لايكون اباء المرأة عن الاسلام طلاقا،يعنی كه ښځې له اسلام قبلولوڅخه انكاروكړ اوقاضی ددوئ په منځ كې تفريق وكونوداتفريق بالاتفاق طلاق نه دی ولی چې طلاق دښځې له طرفه نشي كيدی اوڅرنګه چې ښځه دطلاق اهليت نه لري ځكه ددي دانكارپه صورت كې قاضی په تسريح بالاحسان كې ددي قائم مقام نشي كيدای ولی چې تسريح دښځې له طرف څخه متصورنه ده .

(۱۴۵)وَلَوْ أَسْلَمَ أَحَدُهُمَا ثَمَّةَ لَمْ تَبِنْ حَتَّى تَحِيضَ ثَلَاثًا (۱۴۶)وَلَوْ أَسْلَمَ زَوْجُ الْكِتَابِيَّةِ بَقِيَ نِكَاحُهَا (۱۴۷)وَتَبَايُنُ الدَّارَيْنِ سَبَبُ الْفُرْقَةِ (۱۴۸)لَا السَّبْيُ (۱۴۹)وَتُنْكَحُ الْمُهَاجِرَةُ الْحَائِلُ بِلَا عِدَّةٍ

ترجمه: او که اسلام قبول کړله زوجینو څخه کوم یوه په دار الحرب کې نو ښځه به نه جدا کیږي ترڅو چې دې ته دري حیضه ورنشي، او که اسلام قبول کړ د کتابیه ښځې خاوند نو باقی به پاتې وي د دوئ نکاح،
او د دارینو تبائن سبب فرقت دی، نه قید کول، او نکاح کولی شي هجرة کونکې غیر حامله ښځه بغیر له عدت تیرولو.

تشریح: (۱۴۵) که په دار الحرب کې احد الزوجین اسلام قبول کړ او دوهم کافر وو نو صرف د کوم یوه په اسلام قبلولو سره به د زوجینو په منځ کې تفریق نه کیږي بلکه که ښځه ذوات الحیض څخه وه نوله دري حیضونو تیرولو وروسته به فرقت واقع کیږي او که ائسه وه نوله دري میاشتو تیریدلو وروسته به فرقت واقع کیږي او که حامله وه نو د بچی له پیدا کیدلو څخه وروسته به فرقت واقع کیږي داپه دي وجه چې صرف اسلام قبلول د فرقت سبب نه دی ولی چې اسلام قبلول طاعت دی او طاعت د سلب نعمت لپاره د سبب جوړیدلو صلاحیت نه لري او په دوهم باندي اسلام عرض کول په دار الحرب کې د موجود والی په وجه سره متعذر دی ولی چې د دار الحرب په انسانانو باندي د مسلمانانو بادشاه ولایت نه لري حال دا چې د دفع فساد لپاره فرقت هم ضروري دی لهذا مو د شرط فرقت (دري حیضه تیرول) د فرقت قائم مقام وګرځوی او دري حیضه تیرول د فرقت شرط ځکه دی چې په طلاق رجعی کې په دري حیضه تیریدلو سره فرقت واقع کیږي. نوله دري حیضه تیرلو څخه وروسته به دا پرخپل خاوند باندي بائنه ګرځي خواه که مدخوله وي او که غیر مدخوله وي.

ف: بیا په دي کې اختلاف دی چې دا فرقت طلاق دی او که نه دی. د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد دا فرقت طلاق نه دی ولی چې دا حکما واقع شوی دی په تفریق قاضی سره نه ده واقع شوی، له صاحبینو څخه یو روایت همدا دی، دوهم روایت دا دی چې دا فرقت طلاق نه شمارل کیږي، او دا فرقت که قبل الدخول وو نو بالاتفاق پر دي ښځه باندي له فرقت وروسته بله عده نشته او که مدخول بها وه نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد اوس هم عده نشته. د صاحبینو په نزد په دري نورو حیضونو سره بله عده تیرول پر دي لازمه ده.

(۱۴۶) که د کتابیه ښځې خاوند مسلمان شو او ښځه پرخپل مذهب پاتې شوه نو دوئ دواړه به په خپله نکاح برقرار پاتې کیږي ولی چې د مسلمان کس او کتابیه ښځې ترمنځ ابتداء نکاح صحیح ده نو بقاء به په طریقه اولی سره صحیح وي ولی چې بقاء له ابتداء څخه اسهله ده.

(۱۴۷) تبائن دارین د فرقت سبب دی چنانچه که احد الزوجین مسلمان شو او له دار الحرب څخه دار الاسلام ته راغی نو په دواړو کې به د تبائن دارین په وجه سره فرقت واقع شي ولی چې تبائن دارین له حصول منافع نکاح سره منافی دی او کوم شئ چې د نکاح د منافع له حصول سره منافی وي هغه نکاح قطع کوي ځکه چې د نکاح وضع د منافع د حصول لپاره شوي ده.

(۱۴۸) قوله لاالسبی ای لیس السبی سبب الفرقة، یعنی که احد الزوجین مسلمانانو ګرفتار کړ نو په صرف ګرفتاري سره فرقت نه واقع کیږي هو که یې هغه دار الاسلام ته راوستی نو فرقت واقع کیږي هغه هم د تبائن دارین په وجه سره نه د سبی په وجه یعنی ګرفتاري په وجه سره، همدا وجه ده که زوجین دواړه ګرفتار شول

نوددوئ ترمنځ به فرقت نه واقع کیږي ولی چې تبائن دارین موجودنه شوصرف دومره خبره ده چې په گرفتاریدلوسره په دواړورقیت طاری شواوگرفتاري اوړقیت له نکاح سره منافی نه دي .

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزدفرقت سبب گرفتاري ده تبائن دارین نه دی ولی چې گرفتاري مقتضی ده ددي چې ملک به گرفتارکونکې لره فارغ وي لهذادادملک نکاح انقطاع لره مستلزم دی ،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې په گرفتاري سره ملک رقبه ثابتیږي اوملک رقبه لکه څرنگه چې له ابتداء نکاح سره منافی نه دی همداشان له بقاء نکاح سره هم منافی نه دی لهذاپه محض گرفتارولوسره فرقت نه واقع کیږي .

(۱۴۹)که کومه ښځه‌له دارالحرب څخه دارالاسلام ته هجرت وکړي خواه که مسلمانه وي اوکه ذمیه وي،اوکله هم دارالحرب ته دتللواراده نه لري نوله دي ښځې سره فی الحال نکاح کول جائزده.اودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدپردي عده تیرول واجب نه دی لقوله تعالی ﴿ولاجناح علیکم ان تنکحوهن﴾ الله تعالی له هجرت کونکوښځوسره نکاح کول مطلقامباح گرځولې ده نودعدت شرط لگول په نص باندي زیادت دی په دي وجه داسې ښځې لره دعدت دتیرلوحکم نشته .اوکه هجرت کونکې ښځه حامله وي نوله وضع حمل څخه وړاندي به نکاح نه کوي ،داقول امام محمد رحمه الله له امام ابوحنیفه رحمه الله څخه روایت کړی دی وجه یې داده چې داحمل له غیر(یعني حربی کافرڅخه)څخه ثابت نسب دی نوکله چې دنسب په حق کې کافرحربی لره ددي فراش والی ظاهرشونوله نکاح څخه دمنع کولوپه حق کې به هم احتیاطاددي فراش والی ظاهریږي لهذانکاح نشي کولی .

ف:دصاحبینوپه نزدپرداسې ښځه باندي عدت تیرول واجب دی ولی چې پردي ښځه له خپل زوج څخه فرقت دارالاسلام ته له داخلیدلوڅخه وروسته واقع شوی دی اوهرهغه فرقت چې هغه په دارالاسلام کې واقع شي پرهغه داسلام احکام جاري کیږي اوعدت هم له احکاموداسلام څخه یوحکم دی لهذاعدت به واجب وي .دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی کمافی شرح التنویر:(ومن هاجرت الینا)مسلمة اوذمیة(حائلابانت بلاعدة)فیحل تزوجهااما الحامل فحتی تضع علی الاظهرلاللعدة بل لشغل الرحم بحق الغیر،وقال ابن عابدین :بخلاف قول الکنزوتنکح المهاجرة الحائل بلاعدة فانهاللاحترازعن الحامل کماعلمت لکنه یوهم ان الحامل لهاعدة کماتوهم ابن ملک وغیره ولیس کذالک (الدرالمختارمع ردالمحتار:۲/۲۲۵)

ف:دلته داتفصیل زده کول هم ضروري دی چې ددي وخت علماؤدملکونودري قسمه جوړکړي دي .
(۱)دارالاسلام. (۲)درالحرب .(۳)دارالامن .دارالاسلام هغه مملکت دی چیرته چې مسلمانانولره داسې سیاسي موقف حاصل وي چې هغوئ دټول اسلامي احکاموپرنفاذقادروي .دارالحرب هغه مملکت دی چیرته چې کافرانولره امن حاصل وي اومسلمانان ښهري له امن څخه محروم وي ،اومسلمان هلته دمذهبي حقوقواوعباداتو،جمعه وعیدین وغیره له علانیه سرته رسولوڅخه قاصروي ،اودارالامن هغه ملک دی چیرته چې واک اواقتدارد غیرمسلمانانوپه لاس کې وي لیکن مسلمانان مامون وي مسلمان ددعوت دین فریضه سرته رسولی شي اوپرهغواسلامي احکاموکاموله چې داقتدارضرورت نشته عمل کولی شي .(ماخوذازفقهی مسائل :۸۲/۴)

ف:ددارالاسلام احكام دادي ،داسلام دټولوشخصي اواجتماعي قوانينوتنفيذ،ددارالكفردمهاجرينو
امدادول ،په دارالحرب كې دراګيرشويومسلمانانواعانت ،جهاداوداسلامي سرحداتودتوسيع سعي
كول،ددارالحرب احكام دادي، چې هلته به داسلام قانونِ جرم اوسزانه جاري كيږي ،ددارالحرب
دومسلمانانوفيصله به ددارالاسلام قاضى نشي كولى،ددارالحرب په اوسيدونكواسلحه نشي خرڅول
كيداى ،ددارالحرب كوم اوسيدونكى ته به ددارالاسلام له شهريت حاصلولوبغيرله يوه كال څخه زيات
داوسيدلواجازه نه وركول كيږي ،له مسلمان زوجينوڅخه كه كوم يوله دارالحرب څخه دارالاسلام ته هجرت
وكړي يادارالاسلام پريږدي دارالحرب وطن جوړكړي نودتبائن داريه وجه سره په دواړوكې فرقت واقع
كيږي ،مسلمان تاجريه په دارالحرب كې داسلام دمالي قوانينوپابندنه وي ، ددارالامن احكام دادي ،هلته
به اسلامي حدودنافذنه وي ،دهغه ځاى ددومسلمانانو فيصله ددارالاسلام قاضى نشي كولى ،دهغه ځاى
په مسلمانانوبه هجرت واجب نه وي ،دهغه ځاى ددفاعى قوت كې اضافه كولوكې مددكول به
دمسلمانانولپاره صحيح وي لكه څرنګه چې صحابه كرامو ﷺ دشاه حبش نجاشى ددښمنانوپه مقابل كې
دده مددكړى وو په دې شرط چې هغه به له كوم مسلمان ملك سره په جنګ بوخت نه وي ،له زوجينوڅخه كه
كوم يوله دارالامن څخه دارالاسلام ته راغى نوددوئ په منځ كې به صرف دتبائن داريه وجه سره فرقت نه
واقع كيږي ولى چې دصلح اوامن دفضاء په وجه سره تګ راتګ اودحقوق زوجيت تكميل ممكن دى
.(حواله بالا)

ف:په موجوده دوركې له غيرمسلم ملكونوڅخه يوقسم خوهغه دي كوم چې داسلام يامطلقامذهب معاندين
دي لكه دكميونسټ بلاک ممالک ،دوهم قسم هغه ملكونه دي چيرته چې دمغربي طرز جمهوريت رائج وي
.په كوموكې چې ياخودسلطنت هيڅ مذهب نه وي اوټول قومونه په خپل مذهب په عمل كولوكې ازادوي
لكه هندوستان ،ياخودسلطنت مذهب خووي ليكن نورااقليتونه هم په خپلو مذهبي معاملاتوكې ازادوي
لكه امريكه،برطانيه وغيره،زماپه خيال داولى نوع ممالک يعنى كيمونسټ ممالک ،ددارالحرب په زمره
كې دي كه څه هم په بعض كميونسټوممالكوكې دمذهبى ازادي اواظهاررائ وغيره په حقوقوكې څه نرمي
پيداكړل شوي ده ،مګربياهم هغه ترواسه دارالحرب دي ،له دې څخه ماسواچې كوم ممالک دي هغه
دارالامن كې شمارل كيدلى شي .(حواله بالا)

(١٥٠)وَارْتِدَادُ أَحَدِهِمَا فَسْخٌ فِي الْحَالِ(١٥١)فَلِلْمَوْطُوءَةِ الْمَهْرُ وَلِغَيْرِهَا النِّصْفُ إِنْ ارْتَدَّ(١٥٢)وَإِنْ ارْتَدَّتْ لَا(١٥٣)وَالْإِبَاءُ نَظِيرُهُ(١٥٤)وَلَوْ ارْتَدَّا وَأَسْلَمَا مَعًا لَمْ تَبِنْ(١٥٥)وَبَانَتْ لَوْ أَسْلَمَا مُتَعَاقِبًا

ترجمه :اومرتدكيدل داحدالزوجين فى الحال فسخ نكاح ده ،نودموطوءه لپاره ټول مهردى اودغير موطوءه
لپاره نصف مهردى كه مرتدشو،اوكه ښځه مرتده شوه نومهرنشته ،اوانكاركول ددې نظيردى ، اوكه دواړه
مرتدشول اودواړواسلام قبول كړيايوځاى ياجلاجلانوښځه به نه جلاكيږي ،اوبائنه كيږي به كه
دواړواسلام قبول كړيوله بل څخه وروسته .

تشريح :(۱۵۰)که احدالزوجين له اسلام ځخه مرتدشو(العياذبالله)نودشيخينورحمهماالله تعالى په نزدفي الحال فرقت واقع کيږي اودافرقت طلاق نه دى ولى چې ردت له نکاح سره منافى دى ځکه چې ردت له عصمت نفس اوعصمت مال سره منافى دى همداوجه ده چې دمرتدپه وژونکې باندې نه قصاص شته اونه ديت،لهذادمرتدملک اونکاح باطليږي،اوطلاق له نکاح سره منافى نه دى همداجه ده چې خاوندله طلاق ورکولوځخه وروسته دوهم ځل نکاح کولى شي لهذاارتدادپه وجه سره چې کوم فرقت وي هغه به طلاق نه وي.دامام محمد رحمه الله په نزدکه ردت دخاوندله طرف ځخه وي نودافرقت طلاق دى که نه نو طلاق نه دى .

ف:دشيخينوقول راجح دى ،لماقال المفتى غلام قادرالنعماني:القول الراجح هوقول الشيخين،قال العلامة ابن الهمام:وعامة مشائخ بخارى افتوابالفرقة وجبرهاعلى الاسلام وعلى النكاح مع زوجهاالاول لان الحسم بذالک يحصل.(القول الراجح:۱/۳۰۱)

(۱۵۱)نوکه خاوندمرتدشواوپه ښځه يې دخول هم کړى وو نوښځې لره به ټول مهروي ولى چې ددخول (يعنى جماع)په وجه سره مهرمؤکدشوى دى ،اوکه خاونددخول نه وي کړى نوښځې لره به نصف مهروي ولى چې دافرقت دزوج له طرف ځخه قبل الدخول راغلى دى لهذادادطلاق قبل الدخول سره مشابه دى نولکه ځرنگه چې د طلاق قبل الدخول صورت کې نصف مهرواجبيږي همداشان دفرقت قبل الدخول په صورت کې به هم نصف مهرواجب وي .

(۱۵۲)قوله وان ارتدت لا:اى ان ارتدت المرأة قبل الدخول لايجب لهاشئ،يعنى که ښځه مرتده شوه نوکه له دخول ځخه وړاندې وو نودداسې ښځې لپاره به مهرنه وي ولى چې دې دارتدادپه وجه سره له خاوندځخه بضع منع کړه نودادقبل القبض دبائع له طرفه دمبيع له هلاکولوسره مشابه دى اوپه داسې صورت کې ځرنگه چې پرمشتري ځه ضمان ياثمن وغيره نه لازميږي، نودلته به هم دخاوندپرذمه هيڅ واجب نه وي . اوکه ښځه بعدالدخول مرتده شوه نوښځې لره به ټول مهروي ولى چې ددخول په وجه سره مهرموکد شوى دى اوس دسقوط احتمال نه لري .البته دعدت دزمانې نفقه به دښځې لپاره واجبه نه وي ولى چې فرقت دښځې له طرفه راغلى دى نودناشزه والى په وجه سره به دې لره نفقه نه وي .

(۱۵۳)قوله والاباء نظيره:اى اباء احدهماعن الاسلام بعداسلام الاخرنظيرالارتداد،يعنى داحدالزوجين له اسلام ځخه انکار دارتدادپه شان دى لهذادبعدالدخول په صورت کې چې دکوم يوه له طرف ځخه هم انکارعن الاسلام موجودشي نوټول مهربه واجب وي ،اوکه انکارقبل الدخول وي نوکه دزوج له طرف ځخه وو نونصف مهرواجب دى اوکه دښځې له طرف ځخه وو نوهيڅ هم نه واجبيږي .

(۱۵۴)که زوجين يوځاى مرتدشول بيادواړه يوځاى مسلمانان شول نودوئ دواړه به استحسانا په خپله نکاح پاتې وي دتجديدنکاح ضرورت نشته .دامام زفر رحمه الله په نزدنکاح باطليږي دقياس تقاضاهم همداده ولى چې ديومرتدکيدل له نکاح سره منافى دى نوددواړومرتدکيدل به په طريقه اولى له نکاح سره منافى وي ولى چې ددواړوپه مرتدکيدلوکې ديوه مرتدکيدل هم موجوديږي .وجه استحسان داده چې بنوحنيفه (ديوې قبيلې نوم دى)له زکوة ځخه په انکارکولوسره مرتدشوي وو بياټول مسلمانان شول مگرصحابه کرامو رضي الله عنهم دوئ ته دتجديدنکاح حکم ورنه کړلهذادامام زفر رحمه الله قياس داجماع صحابه رضي الله عنهم په وجه سره متروک دى .

(١٥٥)قوله وبانت لو اسلما متعاقبا اى بانت المرأة لو اسلم المرتدان حال كون اسلام كل واحد منهما متعاقبا لاسلام الاخر يعني
كه زوجين وروسته وراندې مسلمانان شول نو په دواړو کې به فرقت واقع کيږي ولی چې کله يوه اسلام قبول
کړنو دهغه بل په ارتداد دپاتې کيدلو په وجه سره دزوجينو په منځ کې اختلاف فى المذهب
موجود شو لهذا فرقت ثابتيږي.

باب القسم

داباب دښځو دقسم په بيان کې دی

قسم بفتح القاف وسكون السين دقسمت الشئ فانقسم مصدر دی، اوشرعاً دخاوند دخپلو منکوحاتو په منځ
کې په نفقه، سکنی، ماکولات، مشروبات، ملبوسات اوبيتوتت کې برابري کولو ته ويل کيږي، له
منکوحاتو سره په جماع کې برابري کول شرط نه دی، قسم بکسر القاف دحصه په معنی دی اوقسم دقاف
اوسين په فتحه سره ديمين په معنی دی.

دمنکوحاتو په منځ کې عدل کول په کتاب الله اوسنت رسول الله دواړو سره ثابت دي قال الله تعالى ﴿وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ﴾ (اوستاسي په وس کې خو کله هم دانشته چې دټولو ښځو په
منځ کې برابري وکړئ که څه هم ستاسي زړه څومره هم وغواړي نوتاسي بالکل يوه طرف ته مه مائله کيږئ
چې پريږدئ تاسي دالکه ځوړنده) وقال ﷺ ﴿من كانت له امرأتان فمال الى إحداهما جاء يوم القيامة وشقه مائل﴾ (يعني
دچاچې دوي ښځې وي اوهغه په قسم کې ديوي طرف ته مائل شونو دقيامت په ورځ به په داسې حال کې
راځي چې دهغه يوطرف به مائل وي).

مصنف رحمه الله له دي ځخه وراندې په يوځای کې دابيان فرمايلې وو چې ازادکس له ځلورو ښځو
سره نکاح کول جائزدي اوغلام لره له دووښځو سره نکاح کول جائزدي نودځلورو اودووښځو په صورت کې
قسم اوعدل کول ضروري دی ځکه مصنف دمتعددو ښځو په منځ کې دعدل تفصيل بيانوي.

(١٥٦) الْبِكْرُ كَالثَّيِّبِ وَالْجَدِيدَةُ كَالْقَدِيمَةِ وَالْمُسْلِمَةُ كَالْكِتَابِيَّةِ فِيهِ (١٥٧) وَلِلْحُرَّةِ ضِعْفُ الْأَمَةِ (١٥٨) وَيُسَافِرُ بِمَنْ شَاءَ مِنْهُنَّ وَالْقُرْعَةُ أَحَبُّ (١٥٩) وَلَهَا أَنْ تَرْجِعَ إِنْ وَهَبَتْ قَسْمَهَا لِلْأُخْرَى

ترجمه: باکره دثيبې په شان ده اونوې دزړې په شان ده اومسلمانه ښځه دکتابيې په شان ده په نوبت کې،
اوازادې لره ترمينځې دوچنده دی، اوپه سفر دې بيايې له ځان سره کومه چې يې خوښه وي اوقرعه اندازي
کول ښه ده، اوښځې لره رجوع کول جائزده که دې هبه کړی وي خپل نوبت بلې ښځې ته.

تشريح: (١٥٦) که ديو کس دوه يا له دوو ځخه زياتې ښځې وي نوپرخاوند دوئ په منځ کې په شپه تيرولو،
ملبوساتو، او ماکولاتو کې برابري کول لازم دي اوباکره دثيبې په شان ده يعنی په دواړو کې هيڅ فرق نشته
همدا رنگه په نوي ښځه او پخوانۍ کې هيڅ فرق نشته، همدارنگه په مسلمانه اوکتابيه ښځه کې فرق
نشته (لقوله ﷺ من كانت له امرأتان فمال الى إحداهما جاء يوم القيامة وشقه مائل) (يعنی دچاچې دوي ښځې وي اوهغه په قسم
کې ديوي طرف ته مائل شونو دقيامت په ورځ به په داسې حال کې راځي چې دهغه يوطرف به مائل وي). په

دي حديث کې دبرابري نه کونکولپاره وعيديان شوی دی لهذا برابري کول لازم دی ، اوحديث شريف ځکه چې مطلق دی په دي کې دباکري وغيره هيڅ فرق نشته لهذا په ټولوکې برابري کول لازمي ده ،همدارازپه دي وجه هم چې قسم دنکاح له حقوقو څخه دی اوپه دي حق نکاح کې دمذکوره ښځوپه منځ کې هيڅ فرق نشته لهذا په ټولوکې برابري کول لازمي ده .

(۱۵۷)که دچاپه نکاح کې يوه ازاده ښځه وي اويوه مينځه وي نوازادي ښځې لره به دوه دريمې وي اومينځې لره به يوه دريمه وي يعنی له ازادي ښځې سره به دوه شپې تيروي اوله مينځې سره به يوه شپه تيروي ولی چې په همدي سره اثروارد شوی دی عن عبادة بن عبدالله الاسدی ﷺ قال اذا نكحت الحرة على الامة فلهذه الثلثان ولهذه الثلث﴾(يعنی که مينځه په نکاح کې وي اوله حرې سره نکاح وکړي نودحرې لپاره به دوه ثلثه وي اودمينځې لپاره به يوثلث وي).

(۱۵۸)که دکوم کس متعددي ښځې وي نودسفرپه حالت کې دوئ لره دنوبت هيڅ حق نشته خاوندکه کومه يوه له ځان سره په سفربيول خوښه کړي هغه بيولی شي ولی چې خاوندلره خوداختياردی چې په دوئ کې يوه هم له ځان سره په سفرنه بوځي نودده لره دااختيارهم شته چې له دوئ څخه کومه يوه وغواړي له ځان سر بيولی شي .مګربهتره داده چې ددوئ دتطييب خاطرلپاره ددوئ په منځ کې قرعه اندازي وکړي دکومي يوې نوم چې په قرعه کې راووځي هغه دي له ځان سره بوځي ،اودامده به په دي باندي نه حسابل کيږي .

ف:دامام شافعي ﷫ په نزدپه سفردتللوپه حالت کې په متعددوښځوکې قرعه اندازي کول واجب ده نوکه بلاقرعه اندازي يې يوه له ځان سره بوتله نودامده دسفرپه هغې باندي محسوبه وي دامام شافعي ﷫ دليل دادی چې له حضرت عائشه ؓ څخه مروی ده ﴿كان النبی ﷺ اذا اراد سفرا اقرع بين نسائه وايتهن خرجت قرعتها زوري ايتها خرج سهمها خرج بها ﴾ (يعنی نبی کريم ﷺ چې به کله دسفراراده فرمايله نوپه خپلوبيبيانوکې به يې قرعه اندازي کوله نوله دوئ څخه به چې دکومي يوي نوم راوتی هغه به يې په سفربيوله)،احناف ځواب ورکوي چې دنبی کريم ﷺ داعمل په استحباب باندي محمول دی ولی چې قسم خوپه نبی کريم ﷺ په حضرکې هم واجب نه وو لقوله تعالی﴿ترجي من تشاء منهن وتؤوي اليک من تشاء ﴾(يعنی په دوئ کې چې ته ﷺ کومه وغواړي له ځان څخه يې ليري کړه اوکومه چې وغواړي ځان ته يې نژدي کړه)له دي ايت څخه معلوميږي چې پرنبی کريم ﷺ قسم لازم نه وو ،همدراز په سفرکې په خاوندپه نوبت لازمولوکې حرج هم دی ولی چې له ځينوښځوسره دکثرت اولادوغيره په وجه سره سفرکول مشکل وي .

(۱۵۹)که له منکوحاتوڅخه کومې يوي خپل نوبت خپلې بنې ته په پريښودلوراضي شوه نوداجائزده ولی چې حضرت سوده بنت زمعة ؓ له نبی کريم ﷺ څخه درخواست کړی وو چې ماته طلاق مه راکوه ترڅوزه په حشرکې ستاله بيبيانوڅخه يم نوزه خپل نوبت حضرت عائشه ؓ ته پريږدم . همداراز قسم ددي حق دی لهذا دادخپل حق دساقطولوحق لري ،بيادي لره دااختيارهم دی چې په خپل نوبت کې رجوع وکړي ولی چې دي داسې حق ساقط کړی دی کوم چې تراوسه دي لره نه ده واجب شوی نوددي په

ساقطولوسره ساقط کيږي هم نه ولی چې داسقاط تحقق په هغه کې وي کوم چې له وړاندي څخه ثابت اوقائم وي .

كِتَابُ الرَّضَاعِ

داکتاب درضاع داحکامو په بيان کې دی

رضاع بفتح الرأ وكسرالرأ دواړه قسمه مستعمل دی ليکن اصل بفتح الرأ دی په کسرالرأ سره هم يولغت دی .په لغت کې رضاع له تي څخه شيدي رودلو ته ويل کيږي اوشرعاً دښځې له تي څخه په مخصوص وخت کې شيدي رودلوته ويل کيږي.له وخت مخصوص څخه مراددرضاعت مده ده دکوم په باره کې چې دائمه واختلاف دی تفصيل مخکې راروان دی ان شاء الله تعالی .

دکتاب الرضاع له ماقبل سره مناسبت دادی چې له نکاح څخه اصل مقصودتوالداوتناسل دی محض تکميل شهوت نه دی اودولدلپاره رضاع ضروري ده ابتداء دولدبقاء عادة له رضاعت څخه بغيرممکن نه ده ځکه نوله نکاح څخه وروسته درضاعت بيان مناسب وګڼل شو .

(۱)هومَصُّ الرَّضِيعِ مِن ثَدْيِ الآدَمِيَّةِ فِي وَقْتٍ مَخْصُوصٍ (۲)وَحَرُمَ بِهِ وَإِنْ قَلَّ (۳)فِي ثَلاثِينَ شَهْراً مَاحَرُمَ بِالنَّسَبِ (۴)إِلَّا أُمَّ أَخِيهِ (۵)وَأُخْتَ ابْنِهِ

ترجمه :هغه رودل دي دشيدي خوړونکی بچی دکومې ښځې له تيانو څخه په يو مخصوص وخت کې،اوحراميږي ددي په وجه سره که څه هم لږوي ،په ديرشومياشتوکې هغه ټول قرابتونه کوم چې حرام دي دنسب په وجه سره ،مګردرضاعی وروږمور،اودرضاعی زوی خور.

تشريح :(۱)مصنف رحمه الله درضاعت شرعی تعريف کړی دی چې دشيدوخوړونکی بچی په مخصوص وخت کې دکومې ښځې له تی څخه شيدي رودلوته رضاع ويل کيږي .دادميه (يعنی دښځې له تی څخه درودلو)دقيدپه لګولوسره يې احترازوکړدحيوان له تی دشيدورودلوڅخه چنانچه که دوکوچنيانوداوي وغيره شيدي ورودلې نوپه دي سره ددواړوپه منځ کې رضاعت نه ثابتيږي .

(۲)يعنی درضاعت په وجه سره هغه ټولې ښځې حراميږي کومې چې دنسب په وجه حرامې دی لقوله ﷺ ﴿ يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ ﴾(يعنی حراميږي په رضاعت سره کومې چې حراميږي په نسب سره)،البته دوه صورتونه له دي څخه مستثنی دي دکوموتفصيل چې به مخکې ذکرکړای شي . بيا داحنافوپه نزدکه بچی لږشيدي وخوروي اوکه ديري په دي سره حرمت ثابتيږي ولی چې ارشادباری تعالی دی﴿ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ الخ ﴾يعنی (حرام کړل شوي دي په تاسې هغه مندي کوموچې تاسې ته شيدي درکړي دي)ولقوله ﷺ ﴿ يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ ﴾(يعنی حراميږي په رضاعت سره کومې چې حراميږي په نسب سره)،په مذکوره بالانصوصوکې درضاعت قليل اوکثيرترمنځ هيڅ فرق نه دی بيان شوی لهذاپه قليل اوکثيردواړوسره تحريم ثابتيږي .

ف:حال داچې دامام شافعی رحمه الله په نزدپه پنځه ځله شيدوخوړلوسره حرمت ثابتيږي له دي څخه په لږونه ثابتيږي لقوله ﷺ ﴿ لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَالْمَصَّتَانِ وَلَا تُحَرِّمُ الْإِمْلَاجَةُ وَالْإِمْلَاجَتَانِ ﴾(يعنی په يودوه ځله رودلويا په يودوه ځله

شیدوورکولوسره حرمت نه ثابتیږي)،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې کوم حدیث چې تاپه استدلال کې وړاندې کړی دی هغه منسوخ دی ولی چې له حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه مروی ده فرمایې چې لا تحرم الرضعة ولا الرضعتان كان فأما اليوم فالرضعة الواحدة تحرم (یعنی دلاتحرم الرضعة والرضعتان والاحکم په کومه زمانه کې وو لیکن نن داحکم منسوخ دی نن په یوځل شیدوورکولوسره هم حرمت ثابتیږي)همدا تفصیل له حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه هم مروی دی .

(۳)البته شرط دادی چې رضاعت به درضاعت په مده کې وي اومدت رضاعت دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددیرش میاشتې دی .دصاحبینوپه نزددوه کاله دی .دصاحبینودلیل دالله تعالی دارشاددی ﴿وحمله وفصاله ثلاثون شهرا ﴾(یعنی دبچی حمل اوفصال دیرش میاشتې دی)نوالله تعالی دحمل اوله شیدوڅخه دبړي کولومده دیرش میاشتې بیان کړي ده اودحمل ادنی مده شپږمیاشتې ده لهذامدت فصال دوه کاله پاتې شو .دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل هم همداایت مبارک دی وجه دااستدلال داده چې الله تعالی دوه شیان(حمل اوفصال) ذکرکړی دی اوددواړولپاره یې یومدت بیان کړي دی نودامدت به له دواړوڅخه دهریوه لپاره پوره پوره وي نه داچې پردواړوبه تقسیمیږي ددي مثال داسې دی لکه چې دیوکس پرزیداوبکرباندې قرض وي قرض خواه دواړوته وویل چې ماتاسې ته یوکال مهلت درکړی دی نودایوکال مهلت به له دواړوڅخه دهریوه لپاره پوره پوره وي نه داچې په دواړوبه تقسیمولوسره هریوه لره شپږمیاشتې مدت شمارل کیږي.، البته دحمل دمدي کمونکی دلیل موجوددی اودفصال په کمیدلوڅه دلیل نشته لهذاهغه پرخپل ظاهردی ،دحمل دمدي کمونکی دلیل دحضرت عائشه رضي الله عنها قول دی (الولدلایبقی فی بطن امه اکثرمن سنتین) (بچی دخپل مورپه نس کې له دووکالوڅخه زیات نشي اوسیدلی)، ظاهره ده چې داشان مضمون له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه په اوریدلومعلومیدای شي لهذاهمدابه ویل کیږي چې حضرت عائشې رضي الله عنها دامضمون له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دی ځکه دحضرت عائشه رضي الله عنها داقول دمرفوع حدیث په درجه کې دی .

ف:دصاحبینوقول راجح دی کمافی الشامیة :(قوله والاصح ان العبرة لقوة الدلیل)قال فی البحر ولایخفی قوة دلیلهما فان قوله تعالی والوالدات یرضعن الایة یدل علی انه لارضاع بعدالتمام واماقوله تعالی فان ارادافصالاعن تراض منهماوتشاور فانما هوقبل الحولین بدلیل تقییده بالتراضی والتشاور وبعدهمالایحتاج الیهماواما استدلال صاحب الهدایة للامام بقوله تعالی وحمله وفصاله ثلاثون شهرا بناء علی ان المدة لکل منهماکمامرفقدرجع الی الحق فی باب ثبوت النسب من ان الثلاثین لهماللحمل ستة اشهروالعامان للفصال (ردالمحتار :۲/۳۳۸)

ف:له مدت رضاعت (علی اختلاف القولین)تیریدلوڅخه وروسته که بچی ته شیدي ورکول شوي نوله دي سره تحریم تعلق نه نیسي یعنی حرمت رضاعت نه ثابتیږي لقوله صلی الله علیه وسلم ﴿ لارضاع بعدفصال﴾له تی پریکیدلوڅخه وروسته رضاعت نشته .

(۴)لوړچې کوم دوه صورتونه مستثنی شوي دي په هغوئ کې یوه صورت دادی چې درضاعی خور،وروړله مورسره نکاح کول جائزده ددي صورت به داسې وي چې زیداوساجدی دیوې پردی ښځې شیدي وخوړلې مګرزیدد ساجدی دنسبی مورشیدي نه دي خوړلې نوزیدلره دده رضعی خورساجدی نسبې مورحلاله ده ،مګردنسبي خور،وروړله نسبي مورسره نکاح جائزه نه ده ولی چې دنسبي خور وروړنسبي

مورخوبه يادده هم موروي که دواړه حقيقي ورورا وخوروي اويابه دده دپلارموطؤه وي که دداړوپلاريوا ومورانې سره جلاجلاوي ،له دي دواړو (مور،اودپلارمؤطوه)سره نکاح جائزه نه ده .

(۵)داستثناء دوهم صورت دادی چې درضاعي زوی له نسبي خورسره نکاح جائزده مثلازيدد بکردبنځې شيدي وخوړلې نوزيدله نسبې خورسره دبکرنکاح جائزده مگردنسبي زوی له نسبې خورسره نکاح جائزنه ده ولی چې دنسبي زوی نسبې خورکه دده له نطفې څخه وي نو هغه دده لورده اوکه دده له نطفې څخه نه وي اودده دزوی صرف په مورشريکه خوروي اوله دي دواړو (لوراوربيبه که يې ددي په موردخول کړی وي)سره نکاح جائزنه ده .

ف :له مستثنائې دووصورتونوڅخه علاوه نورصورتونه هم شته ،نمبر۱.دنسبي خورله رضاعي مورسره نکاح کول جائزده مثلادزيدحقيقي خورته کومې پردی ښځې شيدي ورکړي نودزيدله دي پردی ښځې سره نکاح کول جائزده .نمبر۲. درضاعي خورله رضاعي مورسره نکاح کول جائزده مثلاحميدی ددوښځوشيدي وخوړلې ،زيدهم له دي دواړوڅخه ديوې شيدي وخوړلې نوپه دي دواړوکې له هغه بلې ښځې (دکومې چې زيدشيدي نه دي خوړلې)سره دزيدنکاح کول جائزده .نمبر۳. دنسبي زوی له رضاعي خورسره نکاح کول جائزده مثلا دزيدزوی بکردی،بکرا وحميدي دکومې اجنبي ښځې شيدي وخوړلې نوزيدلره دځپل نسبي زوی بکرله رضاعي خور حميدی سره نکاح کول جائزده .نمبر۴. دنسبي لمسی له رضاعي مورسره مثلادزيدزوی محموددی اود محمود زوی خالددی اوخالدته کومې اجنبي ښځې کريمې شيدي ورکړي نوزيدته له کريمې سره نکاح کول جائز ده . نمبر۵ درضاعي لمسي له نسبي مورسره مثلادزيدزوی محموددی اود محمودزوجې بکرته شيدي ورکړي نو بکردزيدرضاعي لمسی شونوزيدته دبکرله نسبي مورسره نکاح کول جائزده .نمبر۶ . درضاعي لمسی له رضاعي مورسره مثلابکرتهدمحمودله زوجې څخه ماسواحليمې شيدي ورکړي نوزيدلره حليمه حلاله ده .نمبر۷ . دنسبي زوی له رضاعي اناسره مثلادزيدزوی عبدالله ته حميدي شيدي ورکړي نودحميدي موركومه چې دعبدالله رضاعي اناشوه زيدته حلاله ده .له دي څخه ماسوا نورهم ډيرصورتونه دي دکوموتفصيل چې په معدن کې کتلای شي .

(۶)زَوْجُ مُرْضِعَةٍ لَبَنُهَا مِنْهُ أَبٌ لِلرَّضِيعِ وَابْنُهُ أَخٌ وَبِنْتُهُ أُخْتٌ وَأَخُوهُ عَمٌّ وَأُخْتُهُ عَمَّةٌ (۷) وَتَحِلُّ أُخْتُ أَخِيهِ رَضَاعًا وَنَسَبًا

ترجمه :اودشيدي ورکونکې ښځې هغه خاوندله کوم څخه چې ددي شيدي دي پلاردی دشيدي خوړنکي لپاره اودهغې زوی وروزدی اودهغې لورخورده اودهغه وروراکادی اودهغه خورعمه ده ، اوحلاله ده دوروررضاعي اونسبي خور.

تشريح :(۶)دشيدي ورکونکې ښځې خاوندله کوم څخه چې دمرضعه (شيدي ورکونکې ښځې)شيدي پيدا شوي دی دمرضعه (کومې ته چې شيدي ورکول شوي دی)پلارجوړيږي په دي سره احتراز دی له هغه خاوندڅخه چې له هغه دښځې شيدي نه وي پيداشوي مثلاچاله کومې داسې ښځې سره نکاح وکړه چې دهغې له سابقه خاوندڅخه شيدي پيداشوي دی اوس دي ښځې کوم بچی ته شيدي ورکړي نوددي بچی رضاعي پلاربه دښځې اوسنی خاوندنه وي بلکه سابقه خاوندبه وي ،همداشان دده (يعنی دزوج المرضعه

)زوی ددي ورورد ی اودده لوردمرضَعه خورده اودده ورورد مرضَعه اکا دی اودده خور دمرضَعه عمه ده لهذامرضعه له دي متعلقینوڅخه له یوسره هم دمرضَعه نکاح صحیح نه ده .

(۷)اودخپل رضاعي وروراونسبي وروړله خورسره نکاح صیح کیدای شي مثلاً دزید دوه ببیانې کلثوم اوسلیمه دي اودداړودوه زامن دی داولې بکراوددوهمې خالددی اودکلثوم له سابقه خاوندڅخه یولورزینب هم شته نودازینب دسلیمه دزوی خالدلپاره حلاله ده ولی چې ددوئ دواړوپه منځ کې هیڅ قرابت نشته ،اودامثال ددواړوصورتونودپاره مثال کیدای شي ځکه چې دکلثوم زوی که ددي حقیقي زوی وي نودا انجلۍ دخالددنسبي وروخورده اوکه رضاعي زوی وي نوهغه دضاعي ورور خورده .

(۸)وَلَاحِلَّ بين رَضِيعَيْ ثَدْيٍ (۹)وَبَيْنَ مُرْضِعَةٍ وَوَلَدِ مُرْضِعَتِهَا وَوَلَدِ وَلَدِهَا (۱۰)وَاللَّبَنُ الْمَخْلُوطُ بِالطَّعَامِ لَا يُحَرِّمُ (۱۱)وَيُعْتَبَرُ الْغَالِبُ لَوْ بِمَاءٍ وَدَوَاءٍ (۱۲)وَلَبَنِ شَاةٍ (۱۳)وَامْرَأَةٍ أُخْرَى

ترجمه :اوحلت نشته له یوه تی څخه دشیدورودنکوپه منځ کې ، اودشیدي رودونکی اودشیدو ورکونکې دزوی اوددي دلمسی په منځ کې ،اوداسې شیدي چې له خورک سره یوځای شوي وي حرمت نه پیداکوي ،اواعتباربه کیږي دغالب که شیدي له اوبو،یادواء یاداوي یادبلې ښځې له شیدونسره مخلوطې وي .

تشریح :(۸)هرهغه دوه ماشومان چې دیوې ښځې پرتیانو سره یوځای شي یعني دواړه دیوې ښځې شیدي درضاعت په مده کې وخوري که څه هم ددواړودرضاعت زمانه سره یوه هم نه وي نوپه دوئ دواړوکې دیوه لپاره له هغه بل سره نکاح کول حلال نه دی ولی چې دوئ په خپل منځ کې سره خوراو ورورديي .

(۹)اومرضَعه (چاته چې شیدي ورکول شوي دي)دمرضِعه (شیدي ورکونکې)له زامنوڅخه له یوه سره هم نکاح نشې کولی که څه هم دمرضِعه زامنودمرضِعې شیدي نه وي خوړلې ولی چې دمرضِعه زامن په هرحال ددي رضاعي وړونه دي .

(۱۰)که شیدي په خوراک کې ګډي شوي نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدپه دي سره حرمت رضاعت نه ثابتیږي که څه هم شیدي غالبې وي ولی چې مقصودیعنی په غذاحاصلولوکې خورک اصل دی اوشیدي دهغه تابع دي لهذاپه حصول مقصودیعنی غذاحاصلولوکې شیدي مغلوبې شوي که څه هم په حقیقت کې غالبې وي ځکه نوله دي سره تحریم تعلق نه نیسي .

ف:دصاحبینوپه نزدکه شیدي غالبې وي نوله دي سره تحریم تعلق نیولی شي ولی اعتباردغالب دی ، همدارازدااختلاف په هغوشیدوکې دی کومې چې په اورنه وي پخ شوي که نه نو بالاتفاق حرمت نه ثابتیږي په مختلف فیه مسئله کې دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الشامیة :(قوله مطلقا)ای سواء کان غالبااومغلوباعندالامام............عن مجمع الانهرعن الخانیة ان قول انه لاتثبت الحرمة بکل حال والیه مال السرخسی وهو الصحیح کمافی اکثرالکتب(ردالمحتار:۲/۴۴۴)

(۱۱)که شیدي په اوبوکې ګډي شوي اوشیدي غالبې وي اوبه مغلوبې وي بیاکوم ماشوم داوڅښلې نوپه دي سره حرمت رضاعت ثابتیږي ولی چې دشیدودغالب والی په وجه په شیدوسره دماشوم په غوښواوهډوکوکې اضافه والی راځي اوپه باب درضاعت کې همدامعتبردی ،قال ﷺ ﴿الرضاع ماانبت اللحم وانشرالعظم﴾ ،اوکه اوبه غالبې وي اوشیدي مغلوبې وي نوپه دي سره حرمت رضاعت نه ثابتیږي ولی چې

مغلوب حكما غير موجود شمارل كيږي نو كو ياده شيدي نه دي خورلي. همدا شان كه شيدي له دواء سره ګډې شوي او شيدي غالبې وي نو په دي سره حرمت رضاعت ثابتيږي ولې چې په غذا حاصلولو كې شيدي مقصود دي ولې چې د شيد و غالب والي دليل دى چې دواء صرف د تقويت لپاره وركړه شوي ده .

(۱۲)قوله ولبن شاة اى يعتبر الغالب لو كان الاختلاط بلبن شاة ،يعنى كه د ښځې شيدي داوي له شيدو سره ګډې شوي او د ښځې شيدي غالبې وي نو په دي سره حرمت ثابتيږي او كه داوي شيدي غالبې وي نو په دي سره حرمت نه ثابتيږي د غالب په اعتبار كولو سره كمافى الماء .

(۱۳)قوله وامرأة اخرى اى يعتبر الغالب لو كان الاختلاط بلبن امرأة اخرى ،يعني كه د دوو ښځو شيدي مخلوطې شوي بيا كوم ماشوم هغه وڅښلې نو امام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې د كومې يوې شيدي غالبې وي د هغې حرمت ثابتيږي ولې چې د دواړو ښځو شيدي په يو ځاى كيدلو سره يو شئ جوړ شو نو په دي سره د رضاعت د حكم په بناء كولو كې اقل د اكثر تابع جوړ شوى دى .

ف: امام محمد او امام زفر فرمايي چې له دواړو سره تحريم تعلق نيسي ځكه چې شى په خپل جنس باندي نشي غالب كيداى په دي وجه چې شى له خپل جنس سره د اتحاد مقصود په وجه نه مستهلك كيږي نو شى له خپل جنس سره په يو ځاى كيدلو معدوم نه ګرځي نو په دوئ كې يو هم د هغه بل تابع نه دى ،له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه په دي باره كې دوه روايته منقول دي په يوه روايت كې له امام ابويوسف سره دى او په بل روايت كې له امام محمد او امام زفر سره دى .

ف: د امام محمد رحمه الله قول راجح دى كمافى الشامية :(قوله قيل وهو الاصح)قال فى البحر وهو رواية عن ابى حنيفة قال فى الغاية وهو اظهر واحوط وفى شرح المجمع قيل انه الاصح اه وفى الشرنبلالية ورجح بعض المشائخ قول محمد واليه مال صاحب الهداية لتاخر دليل محمد كمافى الفتح .(ردالمحتار :۲/۴۴۳)

(۱۴)وَلَبَنِ الْبِكْرِ(۱۵)وَالْمَيِّتَةِ مُحَرِّمٌ(۱۶)لَا الِاحْتِقَانُ(۱۷)وَلَبَنُ الرَّجُلِ(۱۸)وَالشَّاةِ

ترجمه: او د باكره ښځې شيدي او مړي ښځې شيدي حراموي ،نه حقنه كول ،او د نارينه شيدي ،او د بزې شيدي .

تشريح :(۱۴) كه د باكره ښځې له تيانو څخه شيدي راغلې بيا دي هغه شيدي كوم ماشوم ته وركړي نو په دي شيدو سره حرمت رضاعت ثابتيږي ولې چې د حرمت رضاعت په باره كې نص مطلق دى په كوم كې چې د باكره او ثيبه ترمنځ هيڅ فرق نشته .

(۱۵) كه د ښځې له وفات كيدلو څخه وروسته د دي شيدي ولو بښل شوي بيا دا شيدي د كوم ماشوم په خوله كې واچول شوي نو په دي سره حرمت رضاعت ثابتيږي ولې چې شيدي له مرګ څخه وروسته داسې دي لكه له مرګ څخه وړاندي ځكه د حرمت سبب د شيدو د څښلو په وجه د جزئيت شبه ده او دا شبه د فوت شوي ښځې د شيدو د څښلو په صورت كې هم پيدا كيږي لهذا د فوت شوي ښځې د شيدو په څښلو سره هم حرمت ثابتيږي .

ف: د امام شافعي رحمه الله په نزد په مذكوره بالاصورت كې حرمت نه ثابتيږي ولې چې د حرمت په ثبوت كې اصل ښځه ده يعني لو مړى په مرضعه ښځه او مرضَع ماشوم كې حرمت ثابتيږي بيا له دي څخه غير ته متعدي

کیږي لیکن څرنګه چې ښځه دمرګ په وجه دحرمت محل نه شوه پاتې لهذا دغیرطرف ته به هم حرمت نه متعدي کیږي .امام شافعي ﷫ ته څواب ورکړل شوی دی چې داویل چې دانبځه اوس محل دحرمت نه ده صحیح نه دي ولی چې که ددي ښځې شیدي کوم ذی خاوندبچی ته ته وروڅښل شوي نوددي بچی خاونددي ښځې زوم کیږي اوددي ښځې محرم ګرځې نوکه ددي ښځې کوم بل قریب نه وي اودتیمم ورکولوضرورت وي نوددي بچی خاونددي ته تیمم ورکولی شې اوښخولی شې ولی چې دانبځه اوس دده رضاعی خوابنې ده .

(۱۶)قوله لاالاحتقان ای لایحرم الاحتقان باللبن ،یعنی که دکوم ماشوم نس ته دحقنې په ذریعه سره دکومې ښځې شیدي ورسول شوي نوپه دي حرمت رضاعت نه ثابتیږي حال داچې دامام محمد ﷫ په نزدپه دې سره هم حرمت رضاعت ثابتیږي ولی چې په حقنه سره روژه فاسدیږي نوحرمت رضاعت هم ثابتیږي ،دظاهرالروایة دلیل دادی چې حرمت په داسې شیدوسره ثابتیږي کومې چې غذاجوړي شې حال داچې دحقنې په ذریعه سره رسیدلې شیدي غذانه ده ولی چې غذاله لوړطرف څخه وي نه دکښته له طرف څخه ،باقي روژه څکه فاسدیږي چې دروژي لپاره مفسدکوم شي جوف ته رسیدل دي اوداد حقنې په صورت کې متحقق کیږي لهذا په حقنه روژه فاسدیږي .

(۱۷)قوله ولبن الرجل ای لایحرم ایضالبن الرجل ،یعنی که دنارینه له تی څخه شیدي راووتې اوده هغه شیدي کوم ماشوم ته وروڅښلې نوپه دي سره حرمت رضاعت نه ثابتیږي ولی چې دنارینه شیدي په حقیقت کې شیدي نه دي ولی چې شیدي له هغه شخص څخه متصوري وي له کوم څخه چې ولادت متصوروي اوڅرنګه چې له نارینه څخه ولادت متصورنه دی په دي وجه له ده څخه شیدي هم متصوري نه دي .

(۱۸)قوله والشاة ای لایحرم لبن شاة ،یعنی که دوه ماشومانودیوې بزي شیدي وخوړي نوددوئ په منځ کې حرمت رضاعت نه ثابتیږي ولی چې دڅارویوشیدي دخورک حکم لري .داوي دشیدوهیڅ حرمت نشته همداوجه ده چې داوي دشیدوپه خوړلوسره اوي لره ام والی نه ثابتیږي ،اوداوي دبچی اودمرضع په منځ کې درورګلوي نه ثابتیږي ،بلکه دحرمت رضاعت حکم بطورکرامت صرف له انسانې شیدوخوړلوسره خاص دی

(۱۹)وَلَوْ أَرْضَعَتْ ضَرَّتَهَا حَرُمَتَا(۲۰)وَلَا مَهْرَ لِلْكَبِيرَةِ إِنْ لَمْ يَطَأْهَا وَلِلصَّغِيرَةِ نِصْفُهُ(۲۱)وَيَرْجِعُ بِهِ عَلَى الْكَبِيرَةِ إِنْ تَعَمَّدَتْ الْفَسَادَ وَإِلَّا فَلَا(۲۲)وَيَثْبُتُ بِمَا يَثْبُتُ بِهِ الْمَالُ

ترجمه :که شیدي ورکړي ښځې خپلې بنې ته نودواړه حرامیږي ،امهرنشته لویې لره که له دي سره وطی نه وه شوې اوکوچنی لره نصف مهردی ،اورجوع به کوي ددي په باره کې په لویې باندي که دقصد کړی وو دفسادنکاح که نه نو نه به کوي ،اوشیدي خوړل ثابتیږي په هغه سره په کوم چې مال ثابتیږي .

تشریح :(۱۹)که چاله یوې لویې ښځې اوله یوې کوچنی شیدخ. خورونکي ماشومې سره نکاح وکړه بیاکبیره ښځې کوچنی ته کومه چې دکبیرې بنه ده خپلې شیدي ورکړي نوپه خاوند دواړه حرامیږي ولی چې په شیدوورکولوسره کبیره دصغیرې رضاعې مورشوه نوخاوندموراولورلره په نکاح کې جمع کونکی شواومورا ولورپه نکاح کې جمع کول حرام دي.

(۲۰)بیاکه خاوندپه کبیره دخول نه وو کړی نوپرخاوندکبیرې لره مهرواجب نه دی ولی چې دکبیرې چې صغیرې ته دشیدوورکولوپه وجه دخاونداوکبیرې ترمنځ کوم فرقت راغلی دی دافرقت قبل الدخول دکبیرې له جانبه راغلی دی اوقبل الدخول دښځې له طرفه فرقت نصف مهرساقطوي لکه څرنګه چې په قبل الدخول مرتده کیدلوسره نصف مهر ساقطیږي ،اوصغیرې لره به نصف مهروي ولی چې فرقت دصغیرې له طرفه نه دی واقع شوی اودقبل الدخول فرقت په وجه دې لره نصف مهرواجب دی.

ف:لیکن که کبیرې قصداشیدې نه وي ورکړي بلکه چادامجبوره کړي وه یادخوب په حالت کې ماشومې ددې شیدې خوړلی وي یاچاددې شیدې لوښلې وي اوماشومې ته یې ورکړي وي نوپه دې صورتونوکې څرنګه چې فرقت دښځې له طرفه نه ده راغلی لهذادې ته به نصف مهروړکول کیږي . همداشان که خاوندله دې سره وطی کړې وي نوداکل مهر مستحقه ده ولی چې دوطی په وجه کل مهرمستحکم شوی دی.

ف:امام مالک رحمه الله فرمایي چې صغیرې ته به هم نصف مهرنه وي ولی چې فرقت دصغیرې له طرفه راغل دی ځکه چې دشیدوخوړلوصدورپه خپله له صغیرې څخه شوی دی ،امام مالک رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې سقوط مهردجزاءپه دول دی اوصغیره دنه مکلفیت په وجه سر دجزاءمستحقه نه ده.

(۲۱)خاوندلره داختیارشته چې صغیرې ته ورکړل شوی مهرله کبیرې څخه واخلې که کبیرې په شیدوورکولوسره دفساد نکاح اراده کړي وه مثلاداورمعلومه وه چې داانجلۍ ددې بن ده اوپه شیدو ورکولوسره نکاح ختمیږي اودشیدوورکولو ضرورت هم نه وو بیاهم دې شیدې ورکړي نوکبیره به دصغیرې دنصف مهرضامنه وي ولی چې دصغیرې نصف مهرعلی شرف السقوط وو ځکه چې ممکنه وه چې له بلوغ څخه وروسته دې دامرتده شوی وای دکوم په وجه چې مهربالکلیه ساقطیدلولیکن کبیرې په شیدوورکولوسره نصف مهرمؤکدکړاودمهرداتاکیدضمان واجبولوپه حق کې داتلاف قائم مقام دی ګویاکبیرې صغیرې ته په شیدوورکولوسره دخاوندنصف مهرتلف کړلهذاکبیرې له طرفه دتعدی په وجه خاوند لره دنصف مهرپه باره کې په کبیره درجوع کولوحق حاصل دی .قوله والالا ای وان لم تتعمدالفساد ،یعنی که کبیرې دفسادنکاح اراده نه وه کړې بلکه دلوږې اوهلاکت دلیرې کولواراده یې وه نوپه دې صورت کې خاوندلره دنصف مهرپه باره کې په کبیرې درجوع حق نشته ولی چې دکبیرې له طرف څخه تعدی نشته.

ف:دامام شافعی اوامام محمدرحمهماالله تعالی په نزدکه کبیرې دفسادنکاح اراده کړې وي اوکه یې نه وي کړې په دواړوصورتونوکې به خاونددنصف مهرپه باره کې رجوع کوي ولی چې کبیره په فسادنکاح کې متسببه ده اوقاعده ده چې په وجوب ضمان کې متسبب دمباشرپه شان دی .احناف ځواب ورکوي چې متسبب دتعدی په وخت کې دمباشرپه حکم کې دی بلاتعدی دمباشرپه حکم کې نه دی لهذابلاتعدی به کبیره ضامنه نه وي.

(۲۲)قوله ويثبت بمايثبت به المال ای يثبت الرضاع بمايثبت به المال ،یعنی په اثبات رضاعت سره څرنګه چې نکاح باطلیږي کوم چې ابطال ملک دی اوابطال ملک په هغه ثابتیږي په کوم چې مال ثابتیږي اومال

ددوعادل يامستورونارينه وپه گواهى سره يادېوه نارينه اودووښځوپه گواهى سره ثابتيږي صرف دښځوپه گواهى سره نه ثابتيږي لهذارضاعت به هم ددووعادل يامستورنارينه وپه گواهى يادېوه نارينه اودووښځوپه گواهى سره ثابتيږي .باقي درضاعت دثابتولولپاره به صرف دښځوگواهى نه قبليږي ولى چې رضاعت داسې شئ دى په كوم چې نارينه هم خبريدئ شي اوصرف دښځو گواهى دهغوشيانوپه باره كې معتبره ده په كوموچې نارينه نشي خبريدلى .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزددڅلورښځوپه گواهى سره رضاعت ثابتيږي ،دامام مالک رحمه الله په نزددېوې عادلې ښځې په گواهى سره رضاعت ثابتيږي .دامام احمد رحمه الله په نزدصرف دمرضعه په گواهى سره رضاعت ثابتيږي .

كِتَابُ الطَّلَاقِ

دا كتاب دطلاق په بيان كې دى

طلاق په لغت كې رفع دقيدته ويل كيږي .اوپه شريعت كې دقيدنكاح في الحال يافي المآل په الفاظ مخصوصه سره رفع كولوته ويل كيږي ،دطلاق سبب دضرورت په وخت كې له قيدنكاح څخه خلاصوالى دى مثلا زوجين په متضاداخلاقوسره متصف وي.

طلاق په اسلام كې يوډيرناخوښه عمل دى نبي كريم ﷺ فرمايلي دي الله تعالى چې دكومو شيانو اجازت دركړى دى په هغوكې يوشى هم له طلاق څخه ډيرناخوښه نه دى .له حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه څخه مروى ده چې نبي كريم ﷺ دبلا وجه طلاق وركونكودبدوالى په بيانولوسره وفرمايل چې ښځوته دي هغه وخت طلاق وركول شي كله چې ددوئ كردارپه اخلاقي اعتبارسره مشكوک وي ولى چې الله تعالى هغه نارينه اوښځې نه خوښوي كوم چې محض خوندونه څكې .

دطلاق لپاره شرط دادى چې طلاق وركونكى به عاقل بالغ وي اوښځه به په نكاح كې وي يابه په داسې عدت كې وي دكوم په وجه چې دادطلاق دمحل والى صلاحيت لري ،اودطلاق حكم زوال الملک عن المحل دى .

كتاب الطلاق له كتاب الرضاع څخه وروسته دذكركولووجه داده چې طلاق اورضاع دواړه موجب حرمت دي مگرپه رضاعت حرمت ابدى ثابتيږي اوپه طلاق غيرابدى نوداهتمام شان په وجه حكم اشدمقدم كړاى شواواخف مؤخركړاى شو .

(۱)هورفع القید الثابت شرعابالنکاح (۲)طلیقها واحدة فی طهر لاوطأ فیه وترکها حتی تمضی عدتها احسن (۳)وثلاثا فی اطهار حسن وسنی (۴)وثلاثا فی طهر او بکلمة بدعی

ترجمه: هغه هغه قیدلره لیري کول دي کوم چې ثابتیږي شرعاًدنکاح په وجه ،ښځې ته یو طلاق ورکول په داسې طهرکې چې په هغه کې صحبت نه وي شوی او داپرینبودل ترڅوچې ددي عدت تیرشي طلاق احسن دی ،اودري طلاقه په دریو طهرونوکې ورکول حسن اوسنی دی ،اودري طلاقه په یوه طهرکې یاپه یوه کلمه سره بدعی دی.

تشریح:(۱)مصنف رحمه الله په خپل دي عبارت کې دطلاق اصطلاحي تعریف بیان کړی دی چې طلاق دهغه قیدپورته کولوته ویل کیږي کوم چې دنکاح په وجه شرعاًثابت شوی دی ،دشرعاًپه قیدسره احتراز وشودقید حسی له رفع کولو څخه چې هغه قیدشرعی نه دی اودبالنکاح په قیدسره عتق خارج شوچې عتق هم له قید څخه خلاصوالی دی مګردعتق قیددنکاح په وجه سره نه ده ثابت شوی بلکه دغلامې په وجه ثابت شوی دی که ښځه موذی وي یاتارک لمانځه وي نودي ته طلاق ورکول مستحب دی اوکه زوج امساک بالمعروف نه شوکولی مثلاًمجبوب یاعینین وو نوبیاطلاق ورکول واجب دی اوبلاوجه طلاق بدعی ورکول حرام دی.

(۲)طلاق پردري قسمه دی ،احسن ،سنت ،بدعت ، طلاق احسن دادی چې سړی خپلې منکوحې ته یوطلاق په داسې طهرکې ورکړي چې په هغه کې یې له دي سره جماع نه وي کړي اوداپریږدي ترڅوچې ددي عدت تیرشي ،دطلاق احسن په دي وجه دی چې له ابراهیم نخعی رحمه الله څخه مروی ده چې صحابه کرامو رضی الله عنهم په دي ډول طلاق مستحب ګڼی .همداراز یوطلاق واقع کول له ندامت څخه ابعدهم دی څکه چې خاوندلره دتدارک امکان شته چې دی په عدت کې رجوع کولی شي اوله عدت څخه وروسته بغیرله حلاله تجدیدنکاح کولی شي اوله یوه څخه دزیات طلاق ورکولوپه صورت کې ښځې لره دشدت وحشت ضررهم دی حال داچې په یوه طلاق کې داوحشت کم دی اوداطلاق احسن په نسبت هغونوروډوو طلاقونوته دی دامرادنه دی چې دافی نفسه احسن دی څکه مروی ده چې طلاق ابغض المباحات دی.

(۳)قوله وثلاثا فی اطهار حسن وسنی ای تطلیقها ثلاثا فی ثلاثة اطهار حسن وسنی ،یعنی طلاق حسن اوسنت دادی چې خاوندخپلې منکوحې مدخول بهاته په دري طهرونوکې دري طلاقه ورکړي په هرطهرکې یوطلاق ورکړي ولی چې حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما خپلې بي بي ته طلاق ورکړدکوم خبرچې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ورسیدونونبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ته وفرمایل !ای ابن عمردداشان کولوتاته الله تعالی حکم نه دی درکړی تاسنت پرینبودل سنت دادی چې ته انتظاروکړي دطهرپیاپه هرطهرکې طلاق ورکړي .اودطلاق له سنت والی څخه مراددادی چې پردي به عتاب نه وي دامعنی نه ده چې پردي به ثواب حاصلیږي ولی چې طلاق فی نفسه عبادت نه دی نودلته له سنت څخه مرادمباح دی.

(۴)قوله وثلاثا فی طهر اوبکلمة بدعی ای تطلیقها ثلاثا فی طهر اوبکلمة بدعی ،یعنی طلاق بدعت دادی چې خاوندخپلې منکوحې ته په یوه طهرکې دوه یادري طلاقه ورکړي یاپه یوه کلمه دوه یادري طلاقه واقع کړي ،اوداطلاق بدعت څکه دی چې په طلاق کې اصل ممانعت دی ولی چې دطلاق په وجه نکاح منقطع کیږي

چې له هغې سره مصالح دينيه اودنيويه تړلې دي مګر کله دکوم عارضي ضرورت په وجه سره له ښځې څخه ځان خلاصولولپاره طلاق مباح ګرځول شوی دی اودامقصود په يوه طلاق سره حاصليږي لهذادري طلاقونو دجمع کولو ياپه طهرواحدکې ددري طلاقونو دواقع کولوضرورت نشته ځکه دي طلاق ته بدعت ويل کيږي ،ليکن چاچيلې ښځې ته طلاق بدعت ورکړنوطلاق واقع کيږي اودده ښځه بائنه ګرځي ولی چې ممانعت لمعنی فی غيره دی لهذا طلاق بدعی فی نفسه مشروع دی .

(۵) وَغَيْرُ الْمَوْطُوءَةِ تُطَلَّقُ لِلسُّنَّةِ وَلَوْ حَائِضًا (٦) وَفَرَّقَ عَلَى الْأَشْهُرِ لِمَنْ لَا تَحِيضُ (٧) وَصَحَّ طَلَاقُهُنَّ بَعْدَ الْوَطْءِ (٨) وَطَلَاقُ الْمَوْطُوءَةِ حَائِضًا بِدْعِيٌّ فَيُرَاجِعُهَا وَيُطَلِّقُهَا فِي طُهْرٍ ثَانٍ

ترجمه :اوغيرموطؤه ته طلاق سنی ورکول کيدای شي که څه هم هغه حائضه وي ،اوتقسيم دي کړي په مياشتو دهغه ښځې طلاق کومې ته چې حيض نه ورځي ،اوصحيح دی ددي طلاق له وطی څخه وروسته ، اوموطؤه ته طلاق په حالت حيض کې بدعی دی نودي ته دي رجوع وکړي اوطلاق دي ورکړي په بل طهرکې

تشريح :(۵)سنت في الطلاق پردوه قسمه دی .(۱)سنت فی الوقت .(۲)سنت فی العدد.سنت فی الوقت دادی چې خاوندښځې ته په داسې طهرکې طلاق ورکړي کوم چې له جماع څخه خالي وي . اوسنت فی العدددادی چې دطهرپه حالت کې صرف يوطلاق ورکړل شي .بياپه سنت فی العددکې مدخول بهاوغيرمدخول بهادواړه برابردي ولی چې په يوه کلمه سره ددريوطلاقونوله واقع کولوڅخه ممانعت کړل شوی دی ترڅوخاوندله ندامت څخه محفوظ شياوداخبره په غير مدخول بهاکې هم موجوده ده ،سنت فی الوقت خاص په مدخول بهاکې ثابتيږي هغه داچې ښځې ته په داسې طهرکې طلاق ورکړل شي په کوم کې چې له دي سره جماع نه وي شوي ولی چې دطلاق مشروعيت دحاجت په وجه دی اوملحوظ دليل حاجت دی اودحاجت دليل دتجددرغبت په زمانه کې اقدام علی الطلاق دی اودتجدد رغبت زمانه هغه طهردی کوم چې خالي عن الجماع وي .ياته شوه دحيض زمانه نوهغه دنفرت زمانه ده ، اوپه طهرکې په يوځل جماع کولوسره رغبت کميږي نوپه حالت حيض اوطهرمع الجماع کې حاجت موجودنه دی ځکه نوسنت فی الوقت ضرف دادی چې په داسې طهرکې طلاق ورکړل شي کوم چې له جماع څخه خالي وي .

(۵)نوغيرمدخول بهاښځې ته طلاق ورکول کيږي که څه هم هغه دحيض په حالت کې وي يعنی غيرمدخول بهاته په طهراو حيض دواړوحالتونوکې طلاق ورکول سنت فی الوقت ګرځول شوی دی ولی چې په غيرمدخول بهاکې رغبت په هرحال کې پوره وي خواه که دادحيض په حالت کې وي اوکه دطهرپه حالت کې وي . لهذاغيرمدخول بهاښځې ته په حالت حيض کې ورکړل شوی طلاق هم سنت فی الوقت شمارل کيږي.

(۶)اوتقسيم دي کړي په مياشتو دهغې ښځې طلاق کومې ته چې حيض نه ورځي يعنی که ښځې ته چې دعمردډيروالي ياکم عمري په وجه حيض نه ورځي اوددي خاوندوغواړي چې دي ته په سنت طريقه طلاق ورکړي نوددي طريقه داده چې يوطلاق دي ورکړي اواوکاردي نه په لري ترڅوچې يوه مياشت تيره شي بيادي دوهم طلاق ورکړي اوبيادي تريوې مياشتې پوري کارنه په لري اوبيادي دريم طلاق ورکړي

نودري طلاقونه به په دريو مياشتو کې پوره شي اوداپه دي وجه چې مياشته دصغيره اوکبيره په حق کې دحيض قائم مقام ده.

(۷)داهم جائزده چې صغيري اوکبيرې ته له وطی وروسته طلاق ورکړي يعنی که ددي طلاق اووطی په منځ کې په زمانه سره فصل ونه کړل شي نوهم جائزده ولی چې په ذوات الحيض کې دطلاق بعدالجماع دکراهت اصلي وجه احتمال الحمل دی ولی چې دانه شي معلوميدای چې دابنځه حامله ده عدت به په وضع الحمل سره تيروي اويا غير حامله ده عدت به په دري حيضه تيروي اوپه صغيره اوکبيره کې ځرنگه چې دا احتمال نشته ځکه نوددوئ به حق کې طلاق بعدالجماع هم بلاکراهته مباح دی.

(۸)اوموطوءه يعنی مدخول بهابنځې ته دحيض په حال کې طلاق ورکول طلاق بدعی دی او ددي طلاق بدعی والی من حيث الوقت دی ولی چې په حديث شريف کې دي چې حضرت عبدالله بن عمر ﷛ دحيض په حالت کې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي وو چې نبی کريم ﷺ پري خبرشونونبی کريم ﷺ حضرت عمر ﷛ ته وفرمايل چې :خپل زوی ته حکم وکړه چې دی خپلې ښځې ته رجوع وکړي . نودرجوع کولوله امرڅخه په حالت حيض کې دطلاق ممانع فهميږي لهذا په حالت حيض کې طلاق ورکونکې کس لپاره خپلې ښځې ته رجوع کول مستحب دی داډيني مشائخوقول دی .اصح دادی چې مراجعت کول واجب دی .اوله رجوع کولوڅخه وروسته چې کله دابنځه له دي حيض څخه پاکه شي په کوم کې چې طلاق ورکړل شوی وو اوبيا حائضه شي بيا له دي حيض ثانی څخه هم پاکه شي نواوس خاوندلره اختياردی چې خپلې ښځې ته په طهرثانی کې طلاق ورکوي ياېې نه ورکوي ولی چې دهرودووطلاقونه ترمنځ به يومستقل حيض سره فصل کول سنت دی ځرنگه چې له دي دوهم حيض څخه وړاندي يوحيض کامل نه دی ځکه ووېل شول چې دوهم حيض دي هم تيرکړي بيا خاوندلره دطلاق ورکولواختياردی .

ف:امام محمد ﷬ په مبسوط کې شمداصورت ذکرکړی دی .امام طحاوی ﷬ ذکرکړي دي چې په کوم حيض کې چې طلاق واقع شوی دی له هغه څخه په وروستنی طهراول کې دطلاق واقع کولواختيارشته .امام ابوالحسن کرخی ﷬ ددي دواړورواياتونوته په تطبيق ورکولوسره فرمايلي دي چې دامام طحاوی ﷬ ذکرکړل شوی روايت دامام ابوحنيفه ﷬ قول دی اوپه مبسوط کې ذکرشوی روايت دصاحبينوقول دی.

ف:داهل ظواهروپه نزدپه حالت حيض کې طلاق نه واقع کيږي ولی چې دحيض په حالت کې طلاق منهی عنه دی لهذا مشروع به نه وي .احناف ځواب ورکوي چې حضرت ابن عمر ﷛ په حالت حيض کې طلاق ورکړی وونونبی کريم ﷺ حضرت عمر ﷛ ته وفرمايل ،مرابنک فليراجعها(خپل زوی ته امروکړه چې هغه خپلې ښځې ته رجوع وکړي)ښکاره ده چې له وقوع طلاق بغيرمراجعت ممکن نه دی لهذا همدا فهميږي چې دحيض په حالت کې هم طلاق واقع کيږي .

(۹)وَلَوْ قَالَ لِمَوْطُوءَتِهِ أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا لِلسُّنَّةِ وَقَعَ عِنْدَ كُلِّ طُهْرٍ طَلْقَةٌ(۱۰)وَإِنْ نَوَى أَنْ يَقَعَ الثَّلَاثُ السَّاعَةَ أَوْ عِنْدَ كُلِّ شَهْرٍ وَاحِدَةٌ صَحَّتْ (۱۱)وَيَقَعُ طَلَاقُ كُلِّ زَوْجٍ عَاقِلٍ بَالِغٍ وَلَوْ مُكْرَهًا(۱۲)وَسَكْرَانَ

ترجمه: كه خاوند خپلې موطوءه ته وويل چې ته دې په درې طلاقه طلاقه يې په سنت طريقه سره نو واقع كيږي په هر طهر كې يو طلاق، او كه يې نيت كړى وي چې درې طلاقه دې اوس واقع شي يا په هره مياشته كې دې واقع شي نو صحيح دى، او واقع كيږي طلاق د هر داسې خاوند كوم چې عاقل او بالغ وي كه څه هم دې مجبور كړل شوى وي، يا په نشته كې مست وي.

تشريح: (۹) كه چا خپلې مدخول بها ښځې ته وويل، انت طالق ثلاثا للسنة (ته دې په درې طلاقه طلاقه يې په سنت طريقه سره) نو په هر طهر كې يو طلاق واقع كيږي ولې چې په للسنة كې لام د اختصاص لپاره دى اى الطلاق المختص بالسنة، او له سنت څخه فرد كامل يعنى سنت من حيث الوقت والعدد دواړه مراد دي ولې چې له مطلق څخه فرد كامل مراديږي. نو كه خاوند په داسې طهر كې طلاق وركړ كوم چې له جماع څخه خالي دى نو يو طلاق فى الحال واقع كيږي او كه يې په داسې طهر كې طلاق وركړ كوم چې له جماع څخه خالي نه وو نو د دې طلاق وقوع به مؤخره كيږي ترڅو چې ښځې ته حيض ورشي بيا پاكه شي اوس به يو طلاق واقع شي.

(۱۰) او كه خاوند دا نيت كړى وي چې درې سره طلاقه دې دفعتا په همدې وخت كې واقع شي نو درې سره طلاقه په همدې وخت كې واقع كيږي همدا شان كه خاوند دا نيت كړى وي چې د هرې مياشتې په پيل كې دې يو طلاق واقع شي نو د هرې مياشتې په پيل كې يو طلاق واقع كيږي ولې چې د درې طلاقو نو واقع كيدل د دې كلام انت طالق للسنة محتمل دى ولې چې د سنت دوه صورتونه دي يو سنى د وقوع په اعتبار سره او دوهم سنى د ايقاع په اعتبار سره، د سنى وقوع مطلب دا دى چې درې طلاقونه يو ځاى واقع كړي او دا په سنت ثابت دى ولې چې نبى كريم ﷺ فرمايلې دي﴿ من طلق امرأته القابانت منه بثلاث والباقى ردعليه ﴾(يعنى چا چې خپلې ښځې ته زر طلاقه وركړل نو په درې سره هغه بائنه كيږي او باقى پر ده رد كيږي)، او د سنى ايقاع مطلب دا دى چې درې طلاقه په سنت طريقه سره واقع كړل شي يعنى په درې طهره كې درې طلاقه وركړي په دې شرط چې هغه طهر له جماع څخه خالي وي، نو په انت طالق للسنة كې دوه احتماله دي يو دا چې سنت كامله وي يعنى ايقاعا او وقوعا دواړو اعتبارونو سره سنت وي او دوهم دا چې سنت قاصره وي يعنى وقوعا سنت وي ايقاعا نه وي نو كله چې خاوند انت طالق ثلاثا للسنة وويل نو سنت څرنګه چې مطلق دى لهذا سنت كامله يعنى ايقاعا او وقوعا دواړه به مراد وي ځكه په دې صورت كې په هر هغه طهر چې په هغه كې جماع نه وي شوي يو طلاق واقع كيږي او كه ده د دفعتا د درې طلاقو نو نيت كړي وي نو د ده د كلام د محتمل والى په وجه دا هم صحيح دى ولې چې ده د خپل كلام د محتمل نيت كړى دى نه د غير محتمل.

ف: امام زفر رحمه الله فرمايي چې دفعتا د درې طلاقو نو د واقع كولو نيت كول صحيح نه دى ولې چې په يو وخت درې طلاقه واقع كول بدعت دى او بدعت د سنت ضد دى او قاعده ده چې له شئ څخه د ده ضد نشي اراده كيداى لهذا د للسنة په ويلو سره د بدعت اراده كول صحيح نه ده. موږ وايو چې ده د خپل كلام د محتمل نيت كړى دى لهذا د ده دا نيت صحيح دى.

(۱۱) هر هغه خاوند چې عاقل بالغ بيدار وي او خپلې منكوحې ته طلاق وركړي نو طلاق واقع كيږي لقوله ﷺ﴿ كل طلاق جائز الا طلاق الصبى والمجنون ﴾(هر طلاق جائز دى مګر د كوچنى او مجنون طلاق) معتوه او بې

هوش دمجنون په حکم کې دی ،همداراز په عاقل بالغ کې دطلاق دورکولو اهليت اوولايت شرعيه شته اوښځه دطلاق محل ده لهذا طلاق نافذيږي. قول ولومکرها اى ولوكان الزوج مكرها على انشاء الطلاق ،يعنی دهرعاقل بالغ طلاق واقع کيږي که څه هم په طلاق ورکولو کې په ده زبردستي شوي وي وجه داده چې مکره دطلاق دواقع کولو اراده کړي ده اوپه ده کې دطلاق دواقع کولو اهليت هم شته لهذا دمکره قصد طلاق به له حکم څخه خالي نه وي ترڅو تخلف الحکم عن العلة لازم نشي اوترڅو دمکره حاجت رفع شي ،دمکره حاجت دادی چې له کوم شئ څخه دی ويرول شوی دی له هغه څخه خلاصې ومومي.

ف :ليکن داکراه په صورت کې دطلاق دواقع کيدلو شرط دادی چې مکره په طلاق تلفظ وکړي نو که څوک په طلاق ليکلو مجبور کړای شواوده دمجبورۍ په وجه وليکل چې ، پرمازما ښځه طلاقه ده نو طلاق نه واقع کيږي ولی چې کتابت طلاق دحاجت په وجه دعبارت طلاق قائم مقام دی حال داچې دلته دکتابت هيڅ حاجت نشته ، کمافي الشامية :(قوله لااقراره بالطلاق)..............وفي البحران المرادالاكراه على التلفظ بالطلاق فلو اكره على ان يكتب طلاق امرأته فكتب لاتطلق لان الكتابة اقيمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولا حاجة هنا كذافي الخانية (ردالمحتار: ۲/۳۵۷)

ف :دامام شافعی رحمه الله په نزد دمکره طلاق نه واقع کيږي لقوله ﷺ ﴿رفع عن امتى الخطاء والنسيان ومااستكرهوا عليه﴾ (يعنی زما له امت څخه پورته کړل شوي دي خطاء ،نسيان ، اوپه څه چې مجبورکړل شوي وي)،امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې له دي څخه مراددادی ، چې زماله امت له مذکوره بالاکسانو څخه اخروی حکم مرفوع دی نه داچې په دنياکې به ددوئ مؤاخذه نه وي همداوجه ده چې په دنياکې پرقتل خطاء مؤاخذه يعنی ديت شته هوپه اخرت کې ده ته عذاب نه ورکول کيږي.

(۱۲) قوله وسكران اى يقع الطلاق ولوكان الزوج سكران ،يعنی د سکران (څوک چې په نشه کې مست وي) طلاق هم واقع کيږي ولی چې دده عقل په داسې سبب زائل شوی دی کوم چې معصيت اوګناه دی لهذا بطور زجراوتوبيخ دده عقل حکماباقی ګرځول شوی دی نو ځکه چې دده عقل حکماباقی ګرځول شوی دی نو دده دطلاق اراده هم صحيح ده اوکله چې دطلاق اراده صحيح ده نو دده واقع شوی طلاق به هم واقع کيږي.

ف :دامام شافعی رحمه الله يوقول دادی چې دسکران طلاق نه واقع کيږي ،دامام کرخی اوامام طحاوی مختارمذهب هم دادی چې طلاق نه واقع کيږي ولی چې قصداو اراده طلاق هغه وخت صحيح ده چې عقل وي حال داچې ددي کس خوعقل زائل شوی دی لهذا دده دطلاق اراده هم صحيح نه ده کله چې دده دطلاق اراده صحيح نه ده نو دده واقع شوی طلاق به هم نه واقع کيږي.

(۱۳) وَأَخْرَسَ بِإِشَارَتِهِ (۱۴) حُرًّا أَوْ عَبْدًا (۱۵) لَا طَلَاقُ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ وَالنَّائِمِ (۱۶) وَالسَّيِّدِ عَلَى امْرَأَةِ عَبْدِهِ (۱۷) وَاعْتِبَارُهُ بِالنِّسَاءِ حَتَّى كَانَ طَلَاقُ الْحُرَّةِ ثَلَاثًا وَطَلَاقُ الْأَمَةِ ثِنْتَيْنِ

ترجمه :اوډګونګی طلاق (واقع کيږي) دده په اشاره سره ،خو ږاه که ازادوي اوکه غلام وي ،نه دکوچنی اومجنون اوويده طلاق ،اودمولی طلاق دخپل غلام پرښځه باندي ،اودطلاق اعتبار په ښځوسره ده نو دازادي ښځې طلاق دري دي اودمينځې دوه دي.

تشریح :(۱۳)قوله واخرس ای ویقع الطلاق ولوکان الزوج اخرس ،یعنی که کوم کس پیدائشي ګونګی وي یاخوپیدائشي ګونګی نه وي بلکه وروسته دغه ناروغي ورپیښه شوي وي البته دائمي وي نوداسې ګونګ که په اشاره سره طلاق ورکړنوطلاق واقع کیږي ولی چې دګونګی اشاره معهوداومعروفه ده لهذادفع حاجت لپاره به هغه دعبارت په شان وي ولی چې کله خوګونګی ته هم دطلاق ورکولوضرورت پیښیږي.

(۱۴)قوله حرااوعبداای ویقع الطلاق حراکان الزوج اوعبدا،یعنی په طلاق ورکولوسره طلاق واقع کیږي خواه که طلاق ورکونکی ازادکس وي اوکه غلام وي دازادکس طلاق واقع کیدل خوظاهردی ،دغلام طلاق ځکه واقع کیږي چې ملک نکاح دغلام حق دی نوده لره اختیاردی که یې خوښه وي برقراردي وساتې اوکه یې خوښه وي ساقط دي کړي.

(۱۵)قوله لاطلاق الصبی والمجنون ای لایقع طلاق الصبی والمجنون ،یعنی که کوچنی یالیونی یاویده خپلې ښځې ته طلاق ورکړي نوددوئ طلاق نه واقع کیږي ولی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي﴿کل طلاق جائزالاطلاق الصبی والمجنون﴾(یعنی هرطلاق جائزدی ماسوادکوچنی اومجنون له طلاق ځخه)،اونائم ځرنګه چې عدیم الاختیاردی حال داچې اختیارفی التکلم دتصرف شرط دی په دي وجه دنائم طلاق هم نه واقع کیږي.

(۱۶)قوله والسیدعلی امراة عبده ای لایقع طلاق السیدعلی امراة عبده ،یعنی که مولی دخپل غلام ښځې ته طلاق ورکړنوداطلاق نه واقع کیږي ځکه چې له حضرت ابن عباس ﷺ ځخه روایت دی فرمایې چې یوغلام نبی کریم ﷺ ته شکایت وکړچې زمامولی دخپلې مینځې نکاح زماسره وکړه اوس غواړي چې زمااومادښځې ترمنځ تفریق وکړي ،نبی کریم ﷺ منبرته پورته شواودغلام دمالک په دي ارادي بې دخپلې ناراضې اظهاروفرمایواو وي فرمایل ﴿الطَّلَاقُ لِمَنْ أَخَذَ بِالسَّاقِ﴾ (دطلاق حق زوج لره دی)،همداراز ملک نکاح غلام لره حاصل دی مولی ته نه دی حاصل اوله ملک نکاح ځخه بغیرطلاق واقع کول ممکن نه دی.

(۱۷)داحنافوپه نزددطلاق په عدداوشمارکې دښځې دحال اعتباردی که ښځه ازاده وي نوخاوند ددریو طلاقونومالک دی اوکه هغه مینځه وي نوزوج به ددووطلاقومالک وي لقوله ﷺ ﴿طَلَاقُ الْأَمَةِ ثِنْتَانِ﴾، همداراز ښځه محل دنکاح کیدل اوددي حلال والی ددي په حق کې نعمت دی په دي وجه چې په دي سره دادنفقه ،کسوة اوسکنی وغیره مستحقه ګرځي اودنعمتونوپه تنصیف کې رقیت لره دخل شته نومینځې لره به صرف یونیم طلاق ورکول کیدوکوم چې دازادې ښځې دطلاق نصف دی مګر ځرنګه چې په طلاق کې تجزی اوتقسیم نه کیږي ځکه نودانیمایې طلاق پوره کړل شواومکمل دوه طلاقه شول.

ف:دامام شافعی رحمه الله په نزددخاونددحال اعتباردی یعنی که خاوندغلام وونودووطلاقومالک به وي اوکه ازادوو نوددریوطلاقومالک به وي په دواړوصورتونوکې خواه که ښځه ازاده وي اوکه مینځه،لقوله ﷺ ﴿الطَّلَاقُ بِالرِّجَالِ وَالْعِدَّةُ بِالنِّسَاءِ﴾(دطلاق تعلق له نارینه وسره دی اودعدت تعلق له ښځوسره دی) وجه استدلال داده چې په حدیث شریف کې طلاق دعدت په مقابل کې ذکرشوی دی اوپه عدت کې من حیث العددبالاتفاق دښځواعتباردی لهذدتقابل تقاضاداده چې په طلاق من حیث العددکې به دنارینه ودحال اعتباروي .امام شافعی رحمه الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې دالطلاق بالرجال مطلب دادی چې طلاق واقع

کول دنارینه وپه اختیارکې دی دښځوپه اختیارکې نه دی هغه مطلب یې نه دی کوم چې تااخیستی دی .همدارازمذکوره بالاحدیث مرفوع نه دی بلکه پرحضرت ابن عباس ﷺ باندې موقوف دی اودشوافع په نزدموقوف حدیث قابل استدلال نه دی .

بَابُ الطَّلَاقِ الصَّرِيحِ

داباب دطلاق صریح په بیان کې دی

صریح هغه کلام ته ویل کیږي چې دهغه مرادبالکل واضح وي په کوم کې چې هیڅ قسم شبهه نه وي اوپه نفس اوریدلوسره سامع وفهموي ،دااصولینوپه نزددی دفقهاؤپه نزدطلاق صریح هغه دی کوم چې په داسې الفاظوورکړل شي کوم الفاظ چې دغلبه استعمال په وجه صرف په طلاق کې مستعمل وي په غیرطلاق کې مستعمل نه وي .

ددې باب له ماقبل سره مناسبت دادی چې کله مصنف رحمه الله له اصل طلاق اووصف طلاق څخه فارغ شونودانواع طلاق یعنی طلاق صریح اوطلاق کنایه په بیان یې شروع وکړه .

(۱۸)هو كَأنْتِ طَالِقٌ وَمُطَلَّقَةٌ وَطَلَّقْتُكِ وَتَقَعُ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ(۱۹)وَإنْ نَوَى الأكْثَرَ او الإبَانَةَ او لم يَنْوِ شيئا(۲۰)وَلَوْ قال أنْتِ الطَّلَاقُ او أنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاقَ او أنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا تَقَعُ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ بِلَا نِيَّةٍ او نَوَى وَاحِدَةً او ثِنْتَيْنِ(۲۱)وَإنْ نَوَى ثَلَاثًا فَثَلَاثٌ

ترجمه :طلاق صریح لکه چې ووایې ،ته طلاق والایې ،اوته مطلقه یې اوماتاته طلاق درکړنوواقع کیږي په دې سره یورجعي طلاق ،که څه هم یې نیت کړی وي دزیاتویادبائن یاهیڅ نیت ونه کړي ،اوکه یې وویل ته طلاق یې یاته خاص طلاق والایې یاطلاق والایې نوواقع کیږي په دې سره یوطلاق رجعي بلانیته یاکه یې دیوه نیت کړی وي ،اوکه یې نیت کړی وي ددریونودرې واقع کیږي .

تشریح :(۱۸)طلاق (مرادتطلیق یعنی طلاق ورکول دي)پردوه قسمه دی ،صریح ،کنایه ،صریح هغه دی چې دهغه مرادپه واضح ډول ښکاره وي مثلاخاوندخپلې ښځې ته ووایې انت طالق (ته طلاقه یې)انت مطلقة (ته طلاق ورکړل شوې یې)طلقتک (ماتاته طلاق درکړ).په دې الفاظوسره طلاق رجعي واقع کیږي ولې چې داالفاظ دطلاق په معنی کې استعمالیږي دغیرطلاق په معنی نه استعمالیږي لهذاداالفاظ دطلاق په معنی کې صریح دي اوله طلاق صریح څخه وروسته رجعت ثابتیږي دالله تعالی ارشاددی﴿وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ﴾(یعنی ددې ښځوخاونددوئ دېرته واپس کولوحق لري)له دې څخه دطلاق رجعي وروسته رجعت ثابتیږي لهذاله طلاق رجعي وروسته به خاوندلره خپلې مطلقې ته درجوع حق وي .

ف: په انت طالق ویلوسره طلاق واقع کیږي که څه هم دطالق طاء تاء ووایې یاقاف عین یاغین یالام ووایې ، اوکه څه هم دی ووایې چې محض دویرولولپاره قصداداسې کړي دی نوقضاء به دده تصدیق نه کیږي الاپه دې صورت کې چې دی له تکلم بالطلاق څخه وړاندې پردې ګواه قائم کړي کمافی الدرالمختار:(ویقع بها)ای بهذه الالفاظ ومابمعناهامن الصریح ویدخل نحوطلاغ وتلاغ وطلاک وتلاک اوط ل ق اوطلاق باش بلافرق بین العالم وجاهل وان قال تعمدته تخویفالم یصدق قضاء الااذااشهدعلیه قبله به یفتی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۲۶۶)

(۱۹)په مذکوره بالادريو لفظو (انت طالق ،مطلقة ،طلقتک)کښې په هريوه صرف يو طلاق واقع کيږي که څه هم خاوندله يوه ځخه دزائدنيت کړی وي ولی چې لفظ طالق دفردصفت دی ځکه چې داديوې ښځې صفت دی حتی چې دووته طالقان اوياتوته طوالق ويل کيږي اوهرهغه لفظ کوم چې صفت فردوي هغه دعدداحتمال نه لري ولی چې عدددفردضددی اوشئ دخپل ضداحتمال نه لري لهذاپه انت طالق سره ددوويادريو طلاقونيت کول صحيح نه دي .همداشان که يې دطلاق بائن نيت کړی وي نوهم طلاق رجعي واقع کيږي ولی چې شريعت دطلاق صريح بائن والی له عدت تيريدلوسره معلق کړی دی حال داچې خاونددي دتنجيزنيت کوي لهذاده نيت معتبرنه دی ،همداشان که خاوندهيڅ نيت نه وي کړی هم طلاق رجعي واقع کيږي ولی چې داصريح طلاق دی اوطلاق صريح دنيت محتاج نه دی ولی چې نيت دمبهم دمتعين کولولپاره وي اودا الفاظ دغلبه استعمال په وجه دطلاق په معنی کښې صريح دي په دوئ کښې هيڅ ابهام نشته لهذادا الفاظ په خپله معنی په دلالت کولو کښې دنيت محتاج نه دي .

(۲۰)که خاوند خپلې ښځې ته وويل ،انت الطلاق يا انت طالق الطلاق يا انت طالق طلاقا (يعنی ته طلاقه يې)نو په دې دريو صورتونو کښې که يې هيڅ نيت نه وي کړی يا يې ديوه طلاق نيت کړی وي يا ددوو ،نويو طلاق رجعي واقع کيږي ولی چې مذکوره بالا الفاظ دغلبه استعمال په وجه صريح دي اوبه صريح سره طلاق رجعي واقع کيږي اودنيت محتاج نه وي ،اوځرنګه چې دامصادردي اوپه مصادروکښې دعدداحتمال نه وي ځکه نوددوطلاقودنيت پروخت هم يو طلاق رجعي واقع کيږي ،انت الطلاق درجل عدل په شان دی دانت طالق په معنی دی ،په پاتې دووکښې الطلاق ياطلاقا مصدرمعرف يامنکردتاکيدلپاره ذکرکړی دی .

(۲۱)که په مذکوره دريو الفاظوکښې خاونددريو طلاقونيت کړی وي نودري طلاقه واقع کيږي ولی چې دامصدراسم جنس دی اوداسم جنس دوه فرده وي يو فردحقيقي اودهم فردحکمي ،فردحقيقي يو طلاق دی اوفردحکمي دکل مجموعه يعنی دري طلاقه دي ،نوکله چې خاونددريو طلاقونيت وکونودفردحکمي والی په وجه سره صحيح دی .

ف:دامام شافعي اوامام مالک رحمهما الله تعالی په نزدددوو طلاقونيت هم صحيح دی يعنی که خاوندپه مذکوره الفاظو سره ددوو طلاقونيت وکړنودوه طلاقه واقع کيږي ولی چې کله ددريونيت کول صحيح دي نوددونيت به هم صحيح وي ځکه چې دوه ددريوجزء دی .موږوايوچې په مفردالفاظوکښې دوحدت معنی ملحوظه وي خواه که وحدت فردی وي اوکه وحدت جنسي وي ،حال داچې په تثنيه کښې نه وحدت فردی شته اونه وحدت جنسي شته بلکه عددمحض دی ،البته که ښځه مينځه وي نوبيا په مذکوره الفاظوسره ددووطلاقونيت کول هم صحيح ده ولی چې دمينځې په حق کښې دوه طلاقه فردحکمي دی اوپه مذکوره الفاظودفردحکمي نيت کول صحيح دی .

(۲۲)وَاِنْ اَضَافَ الطَّلَاقَ اِلٰی جُمْلَتِهَا اَوْ اِلٰی مَا يُعَبَّرُ بِهِ عَنْهَا كَالرَّقَبَةِ وَالْعُنُقِ وَالرُّوْحِ وَالْبَدَنِ وَالْجَسَدِ وَالْفَرْجِ وَالْوَجْهِ (۲۳)اَوْ اِلٰی جُزْءٍ شَائِعٍ مِنْهَا كَنِصْفِهَا اَوْ ثُلُثِهَا تَطْلُقُ (۲۴)وَاِلَى الْيَدِ وَالرِّجْلِ وَالدُّبُرِ لَا

ترجمه :اوکه يې منسوب کړطلاق دټولې ښځې طرف ته يادداسې حصې طرف ته چې په هغې سره له ټولې ښځې تعبيرکيږي لکه مغزی اوغاړه اوروح اوبدن اوجسم اوشرمګاه اوسراومخ ،يادښځې دجزء شائع طرف

ته لکه د دي نصف او د دي ثلث ته نو طلاق واقع کيږي ، او که يې منسوب کړ د لاس طرف ته يا د پښې طرف ته يا د دبر طرف ته نو نه واقع کيږي .

تشريح :(۲۲)يعنی که خاوند د ښځې کل ته د طلاق نسبت وکړ لکه انت طالق نو طلاق واقع کيږي . همدا شان که يې د طلاق نسبت د ښځې د داسې جزء طرف ته وکړ چې په هغه سره له کل څخه تعبير کيدو نو هم طلاق واقع کيږي لکه رقبتک طالق او عنقک طالق او روحک طالق الخ وجه داده چې په دي اعضاؤ سره له کل څخه تعبير کيږي نو دا د انت طالق په منزله دي .

(۲۳)قوله والی جزء شائع ای لو اضاف الطلاق الی جزء شائع من المراة يقع الطلاق ، يعنی که خاوند د طلاق نسبت د ښځې جزء شائع يعنی د غير معين جزء طرف ته وکړ نو هم طلاق واقع کيږي لکه نصفک طالق ، يا ثلثک طالق ، وجه داده چې جزء شائع د بيع وغيره تصرفاتو محل دی نو د طلاق محل به هم وي البته د ښځې بدن د طلاق په حق کې متجزی نه دی يعنی داسې نه دی چې د ښځې يو جزء دي طلاق وي او بل جزء دي طلاق نه وي لهذا په ټول کې طلاق ثابتيږي .

(۲۴)قوله والی اليد والرجل والدبر لا ای لو اضاف الطلاق الی اليد والرجل والدبر لا تطلق ، يعنی که خاوند وويل يدک طالق ، يا رجلک طالق ، يا دبرک طالق ، نو طلاق نه واقع کيږي ولی چې يد رجل وغيره داسې اعضاء نه دي چې په دوئ سره د ښځې له ټول بدن څخه تعبير وکړل شي ، همدا راز په دي کې اضافت طلاق د غير محل طلاق طرف ته دی لهذا دا لغو دی لکه د ښځې لعاب يا نوکانو ته د طلاق نسبت کول .

(۲۵)وَبِنِصْفِ التَّطْلِيقَةِ اَوْ ثُلُثِهَا طَلْقَةٌ (۲۶)وَثَلَاثَةُ اَنْصَافِ تَطْلِيقَتَيْنِ ثَلَاثٌ (۲۷)وَمِنْ وَاحِدَةٍ اَوْ مَابَيْنَ وَاحِدَةٍ اِلَى ثِنْتَيْنِ وَاحِدَةٌ (۲۸)وَاِلَى ثَلَاثٍ ثِنْتَانِ (۲۹)وَوَاحِدَةٌ فِي ثِنْتَيْنِ وَاحِدَةٌ اِنْ لَمْ يَنْوِ اَوْ نَوَى الضَّرْبَ (۳۰)وَاِنْ نَوَى وَاحِدَةً وَثِنْتَيْنِ فَثَلَاثٌ (۳۱)وَثِنْتَيْنِ فِي ثِنْتَيْنِ ثِنْتَانِ وَاِنْ نَوَى الضَّرْبَ

ترجمه :او نيمايي طلاق يا ثلث طلاق پوره طلاق دی ، او دري نصفه د دوو طلاقو دري طلاقه دي ، او که يې وويل چې له يوه څخه تر دوو پوري يا له يوه څخه د دوو تر منځ نو يو دی ، او تر دريو پوري دوه دي ، او يو په دوه کې يو دی که هيڅ نيت ونه کړي يا د ضرب نيت وکړي ، او که يې د يوه او دوو نيت وکړ نو دري دي ، او دوه په دوو کې دوه دي که څه هم د ضرب نيت وکړي .

تشريح :(۲۵)که چا خپلې منکوحه ته نصف طلاق ورکړ يا يې ثلث طلاق ورکړ مثلا خاوند ښځې ته وويل چې ته دي په نصف طلاق طلاقه يې يا دي په ثلث طلاق طلاقه يې نو دا به پوره طلاق شمارل کيږي او هغه ښځه به په يوه طلاق مطلقه وي وجه يې داده چې طلاق متجزی يعنی په منقسم کيدلو سره ټوټه ټوټه کيدای نشي او قاعده داده چې د بعض مالا يتجزی ذکر د کل د ذکر په شان وي يعنی د غير متجزی شئ د يوه جزء ذکر د کل ذکر شمارل کيږي نو څرنګه چې نصف او ثلث د غير متجزی شئ يعنی طلاق اجزاء دي ځکه نو په دوئ سره پوره طلاق واقع کيږي .

(۲۶)او که خاوند خپلې ښځې ته د دوو طلاقو دري نصف طلاقه ورکړل نو دري طلاقه واقع کيږي مثلا خاوند خپلې ښځې ته وويل ته دي د دوو طلاقو په دري نصف طلاقو طلاقه يې نو دري طلاقه واقع کيږي

ولې چې د دوو طلاقونصف يو طلاق دى او بل نصف دوهم طلاق دى او دريم نصف دريم طلاق دى په دې ډول درې طلاقه واقع کيږي.

(۲۷) قوله ولو من واحدا ومابين واحدة الى ثنتين واحدة اى لوقال انت طالق من واحدة الى ثنتين او قال انت طالق مابين واحدة الى ثنتين تقع واحدة ،يعنى كه خاوند خپلې ښځې ته وويل انت طالق من واحدة الى ثنتين ،ته دې له يوه ځخه تر دوو طلاقو په طلاق بائندې طلاقه يې يايې وويل انت طالق مابين واحدة الى ثنتين ته دې طلاقه يې له يوه ځخه د دوو ترمنځ ،نو په دې دواړو صورتونو کې دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد يو طلاق واقع کيږي ولې چې قاعده ده چې که غايتين دوه داسې عددونه وو د کوموپه منځ کې هم کوم عدد وو نو اکثر من الاقل به مراد وي مثلاً وي ويل انت طالق من واحد الى ثلث په دې غايتين دوه عدده دي يعنى يو او درې ،او د دواړو په منځ کې يو بل عدد يعنى دوه شته نو په دې مجموعه کې اقل عدد يو دى او له دې ځخه لوړ دوه دي نو اکثر من الاقل دوه دي لهذا دوه طلاقه مراد دي،اوکه غايتين دوه عدده وي مگر د دواړو په منځ کې بل کوم عددنه وي نوله دواړو ځخه به اقل من الاكثر مراد وي مثلاً وي ويل انت طالق من واحدة الى ثنتين ، نو ځرنگه چې ديوه او دوو په منځ کې کوم عدد نشته او په دواړو کې يو اقل دى اودوه اكثر دي نو د قاعدې مطابق به اقل من الاكثر مراد وي لهذا په دې صورت کې يو طلاق واقع کيږي .

ف: د صاحبينو په نزد د دواړه غايتين په مغيا کې داخلې دي يعنى غايه ابتداء او غايه انتهاء دواړه په مغيا کې داخلې دي په دې وجه د خاوند په انت طالق من واحدة الى ثنتين او انت طالق مابين واحدة الى ثنتين ويلو کې دوه طلاقه واقع کيږي ،او دامام زفر رحمه الله په نزد ځرنگه چې دواړه غايې په مغيا کې داخلې نه دي لهذا په مذكوره دواړو صورتونو کې يو طلاق هم نه واقع کيږي.

ف: مروى ده چې د هارون الرشيد په دربار کې د اصمعى او امام زفر ترمنځ مناظره وشوه ،اصمعى له امام زفر ځخه پوښتنه وکړه چې که کوم خاوند خپلې ښځې ته وويل انت طالق مابين واحدة الى ثنتين نو ځو طلاقه واقع کيږي ؟امام زفر ځواب ورکړ يو طلاق نه واقع کيږي ولې دواړه غايې په مغيا کې داخلې نه دي .اصمعى پوښتنه وکړه چې ستا عمر ځومره دى ؟امام زفر وويل مابين ستين الى سبعين ،اصمعى وويل چې ستا د قاعدې مطابق خو ستا عمر نهه کاله شو ولې چې غايه ابتداء يعنى شپيته او غايه انتهاء يعنى اويايم کال دواړه ستا په عمر کې شامل نه دي لهذا ستا عمر نهه کاله پاتې شو .

(۲۸) قوله والى ثلث ثنتان اى لوقال انت طالق من واحدة الى ثلث فالواقع ثنتان ،يعنى كه خاوند وويل انت طالق من واحدة الى ثلاث ،ته دې طلاقه يې له يوه ځخه تر دريو پورې ،نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دوه طلاقه واقع کيږي ولې چې په تيره شوې مسئله کې قاعده بيان شوه چې کله غايتين دوه داسې عددونه وي چې د هغو په منځ کې يو بل عدد وي نو له دې ځخه مراد اكثر من الاقل وي يعنى له اقل عدد ځخه اكثر والا عدد مراد وي او من واحد الى ثلث کې اقل عدد واحد دى لهذا كوم عدد چې له ده ځخه اكثر وي هغه به مراد وي کوم چې دوه دى لهذا دوه طلاقه واقع کيږي ،حال داچې د صاحبينو په نزد درې طلاقه واقع کيږي او د امام زفر په نزد يو طلاق واقع کيږي كما مر التفصيل .

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى لماقال المفتي غلام قادر النعماني :القول الراجح هوقول ابى حنيفه ,قال ابن الهمام وابوحنيفه يقول المارقع كذالك فيمامرجعه اباحة كالمثل المذكور اماما اصله الحظر حتى لايباح الالدفع الحاجة فلاوالطلاق منه فكان قرينة على عدم ارادة الكل غيران الغاية الاولى لابدمن وجودها ليترتب عليها الطلقة الثانية (القول الراجح: ۱/۳۱۱)

(۲۹) قوله وواحدة في ثنتين واحدة اى لوقال الزوج انت طالق واحدة في ثنتين تقع طلقة واحدة ،يعنى كه خاوند وويل ،انت طالق واحدة في ثنتين ،ته دي طلاقه يې يوپه دوه كې ،نويوطلاق واقع كيږي خواه كه دده هيڅ نيت هم نه وي يايې ديوه په دوه كې دضربولونيت كړى وي په هرصورت يوطلاق واقع كيږي ولى چې كه يې دضرب نيت كړى وي نودضرب اثرصرف دادى چې په مضروب فيه كې په ضرب وركولوسره دمضروب اجزاء ډيريږي نه داچې دمضروب عدد ډيريږي كه نه نو په دنياكې به هيڅوك فقيرنه واى ،لهذاعدد همدايوپاته كيږي البته دده اجزاء په ډيريدوسره دوه ګرځي اوديوه طلاق په ډيرواجزاؤكيدلو سره په طلاق كې تعددنه پيداكيږي بلكه طلاق همدايوپاتې كيږي لهذا دضرب دنيت كولوپه صورت كې يوطلاق واقع كيږي .اودنيت دعدم په صورت كې څرنګه چې داعبارت په ضرب كې نص دى لهذاپه دي صورت كې هم يوطلاق واقع كيږي.

(۳۰) اوكه خاوندپه انت طالق واحدة في ثنتين كې ديوه اودوونيت كړى وويعنى دانيت يې كړى وو چې ته دي طلاقه يې په يواودوه طلاقه نودري طلاقه واقع كيږي ولى چې په دي صورت كې لفظ دفي استعارة دواوپه معنى دى ،اوواودجمع لپاره دى نويواودوه طلاقه په جمع كولوسره دري طلاقه كيږي نوداداسې شوه لكه چې څوك ووايي انت طالق واحدوثنتين .

(۳۱) قوله وثنتين في ثنتين ثنتان اى لوقال الزوج انت طالق ثنتين في ثنتين فالواقع ثنتان ،يعنى كه خاوندخپلې ښځې ته وويل انت طالق ثنتين في ثنتين (ته طلاقه يې دوه په دووكې)نودوه طلاقه واقع كيږي ولى چې كه خاونددظرفيت قصدكړى وي نوطلاق دظرفيت صلاحيت نه لري لهذاظرف يعنى له في څخه مؤخردوه نه واقع كيږي بلكه صرف مظروف يعنى له في څخه مقدم دوه واقع كيږي .اوكه خاونددضرب قصدكړى وي نوبيا ضرب سره دطلاق اجزاء ډيريږي په طلاق كې تعددنه پيداكيږي نوطلاق هغه پاته كيږي لهذادضرب دنيت كولوپه صورت كې هم صرف دوه طلاقه واقع كيږي .

(۳۲) وَمِن هٰهُنَا إلَى الشَّامِ وَاحِدَةٌ رَجعِيَّةٌ (۳۳) وَبِمَكَّةَ أَو فِي مَكَّةَ أو فِي الدَّارِ تَنجِيزٌ (۳۴) وَإذَا دَخَلتِ مَكَّةَ تَعلِيقٌ

ترجمه :(اوكه يې وويل ته طلاقه يې)له دي ځايه څخه ترشام پوري نويورجعى طلاق دى ،اوله مكې سره يا په مكه كې يا په كوركې نوداطلاق في الحال دى ،او(دخاوندپه دى ويناكې چې)كله چې ته داخله شې مكې ته نوداتعليق طلاق دى .

تشريح :(۳۲) قوله ومن هناالى الشام واحدة اى لوقال انت طالق من هناالى الشام تقع طلقة واحدة ،يعنى كه خاوند خپلې ښځې ته ويل ،ته طلاقه يې له دي ځاى څخه ترشام پوري ،نويورجعى طلاق واقع كيږي دليل دادى چې ده طلاق صراوكوتاه كړولي چې كه خاوندالى الشام نه واى ويلى نوطلاق ددنياپه هرطرف كې واقع كيدلونوكله چې ده الى الشام ووايونوده طلاق ترمحدودمكان پوري مقصوركړحال داچې طلاق بنفسه دقصرمحتمل نه دى ولى چې طلاق جسم نه دى لهذاپه مذكوره صورت كې دده حكم په رجعى پوري مقصوركړل شوچې په سره يو طلاق رجعى واقع كيږي .

ف: دامام زفر رحمه الله په نزد په مذکوره صورت کې يو طلاق بائن واقع کيږي ولې چې خاوند طلاق په طول سره متصف کو او طول دقوت په معنی کې استعماليږي او دقوت اظهار په بائن کې کيږي نه په رجعی کې ځکه په دې صورت کې يو طلاق بائن واقع کيږي.

(۳۳) قوله وبمكة اوفي مكة اى لوقال الزوج انت طالق بمكة اوفي مكة اوفي الدار فالطلاق في هذه الصور تنجيز ،يعنی که چاخپلې ښځې ته وويل انت طالق بمكة يا انت طالق في مكة (ته طلاقه يې په مکه کې) يايې وويل انت طالق في الدار (ته په کور کې طلاقه يې) نو دا منجز طلاق دی يعنی في الحال واقع کيږي ولې چې طلاق داسې نه دی چې په يوه مکان کې واقع وي او په بل مکان کې واقع نه وي بلکه طلاق چې کله واقع کيږي نو هر ځای واقع کيږي.

(۳۴) قوله وفي اذدخلت مكة تعليق اى لوقال الزوج انت طالق اذادخلت مكة فالطلاق تعليق بدخول مكة ،يعنی که خاوند خپلې ښځې ته وويل انت طالق اذادخلت مكة (ته دې طلاقه يې کله چې مکې ته داخله شې) نو دا د زوج له طرف څخه تعليق طلاق دی يعنی طلاق په شرط پورې معلق کول دي نو ترکله چې ښځ مکه مکرمه ته داخله نه شي طلاق نه واقع کيږي ولې چې زوج طلاق په دخول مکه پسې معلق کړی دی.

فَصْلٌ فِي إضَافَةِ الطَّلَاقِ إلَى الزَّمَانِ

دا فصل د طلاق د زماني طرف ته د منسوب کولو په بيان کې دی.

مطلب دا دی چې زوج د طلاق حکم د طلاق د تکلم له زمانې څخه وروسته زمانې طرف ته بغير له کلمې د شرط څخه مؤخر کړي مثلاً کوم کس خپلې ښځې ته نن ووايي چې انت طالق غدا ته دې صبا طلاقه يې ،نو په داسې صورت کې طلاق څه وخت واقع کيږي؟ددې صورت تفصيل او ددې صورت په څير د نورو ډيرو صورتونو تفصيل په متن کې را روان دی.

طلاق پر درې قسمه دی ،مرسل ،مصاف الى الوقت ،او معلق بالشرط .د طلاق مرسل په صورت کې په طلاق ورکولو سره فوراً طلاق واقع کيږي او د مضاف الى الوقت په صورت کې د وخت په راتلو سره واقع کيږي. او معلق بالشرط هغه وخت واقع کيږي کوم وخت چې شرط موجود شي .مصنف رحمه الله له دې څخه وړاندې د طلاق مرسل تفصيل د سني او بدعی په ضمن کې بيان کړ ،او س طلاق مضاف الى الوقت بيانوي او وړاندې به د معلق بالشرط تفصيل بيان کړي.

(۳۵) أَنتِ طَالِقٌ غَدًا أو فِي غَدٍ تَطْلُقُ عِنْدَ الصُّبْحِ (۳۶) وَنِيَّةُ الْعَصْرِ تَصِحُّ فِي الثَّانِي (۳۷) وَفِي الْيَوْمِ غَدًا أو غَدًا الْيَوْمَ يُعْتَبَرُ الْأَوَّلُ (۳۸) أنتِ طَالِقٌ قَبلَ أَنْ أَتَزَوَّجَكِ أو أَمْسِ وَنَكَحَهَا الْيَوْمَ لَغْوٌ (۳۹) وَإِنْ نَكَحَهَا قَبلَ أَمْسِ وَقَعَ الْآنَ

ترجمه :(که خاوند وويل) ته طلاقه يې صبا يا په صبا کې نو هغه طلاقيږي په صبا کيدلو سره ،او د عصر نيت صحيح دی په دوهمه جمله کې ،او که يې وويل ته طلاقه يې نن صبا يا صبا نن نو د اولنی لفظ اعتبار کيږي ،(که يې وويل) ته طلاقه يې له دې څخه وړاندې چې زه ستا سره نکاح کوم يا پرون او نکاح يې نن کړې وي نو دا لغو دی ،او که يې نکاح کړې وي له پرون څخه وړاندې نو په همدې وخت کې طلاق واقع کيږي.

تشریح :(۳۵)که خاوندخپلې ښځې ته وویل ،انت طالق غدا،ته طلاقه یې صبانودفجرثانی له طلوع کیدلوسره پردې طلاق واقع کیږي ولی چې ده ښځې لره په جمیع غدکې په طلاق متصف کړي ده یعنی دصباله ابتداء څخه ترانتهاپورې په ټوله مده کې یې داپه طلاق متصفه کړې ده لهذادصباورځې په شروع کیدلوسره داطلاقیږي ،همداحکم دانت طالق فی غد(ته طلاقه یې په صباکې)هم دی ،البته خاوندکه په اولنی صورت کې دعوی وکړه چې مادصبادعصرنیت کړی وو نوقضاء به دده تصدیق نه کیږي ،هوفی ماابینه وبین الله دده دانیت صحیح دی.

(۳۶)اومذکوره بالاحکم دانت طالق فی غد(ته طلاقه یې په صباکې)هم دی البته که خاوندپه انت طالق فی غدکې دعصرنیت وکړنودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددیانةً اوقضاءً دواړه طرزه صحیح دی ولی چې دفی کلمه دظرفیت لپاره ده اوظرفیت دټولې ورځې داستعیاب مقتضی نه دی نوکه دکوم معین وخت نیت نه وي نودمزاحم دنه وجودپه وجه به بالضرورة طلوع فجرثانی مرادوي اوکه یې کوم وخت متعین کړنومتعین قصدی له متعین ضروري څخه اولی دی لهذادکوم وخت تعین چې یې کړی دی هغه به مرادوي.

ف:دصاحبینوپه نزدپه مذکوره بالادواړوصورتونوکې دعصردنیت دکولوپه دعوی کې به دقضاء دزوج تصدیق نه کیږي ولی چې ده خپله ښځه په صباټوله ورځ کې په طلاق متصفه کړي ده نوله کوم یوه جزءسره مخصوص کول تخصیص فی التعمیم دی په کوم کې چې ده لره تخفیف هم دی لهذاقضاءبه دده تصدیق نه کیږي.

(۳۷)قوله ولی الیوم غدااي لوقال انت طالق الیوم غدااوانت طالق غداالیوم ،یعنی که خاوندښځې ته وویل چې ته طلاقه یې نن ،صبا،یاته طلاقه یې صبا،نن،نوداولنی لفظ اعتباربه کیږي لهذاپه اولنی صورت کې به نن طلاق واقع کیږي ولی چې الیوم دفی الحال طلاق لپاره دی اوغداد صبادطلاق لپاره دی اومنجزطلاق یعنی فی الحال واقع شوی طلاق داضافت الی الغداحتمال نه لري .اوپه دوهم صورت کې صباطلاق واقع کیږي ولی چې غدااضافت لپاره دی اوطلاق مضاف الی المستقبل منجزنه وي ولی چې په دې کې داضافت ابطال دی لهذاپه دواړوصورتونوکې لفظ ثانی لغودی.

(۳۸)قوله انت طالق قبل ان اتزوجک اي لوقال الزوج لامراته انت طالق قبل ان اتزوجک ،یعنی که خاوندوویل ،انت طالق قبل ان اتزوجک (ته طلاقه یې وړاندې تردې چې زه له تاسره نکاح وکړم)نودخاونددا کلام لغودی لهذاپه دې سره یوطلاق هم نه واقع کیږي ولی چې طلاق یې دداسې زمانې طرف ته منسوب کړی دی کومه چې له طلاق سره منافی ده ولی چې له نکاح څخه وړاندې دطلاق وجودنه وي لهذاداسې طلاق نه واقع کیږي .همداشان که خاوندوویل ،انت طالق امس (ته طلاقه یې پرون)حال داچې دنن نکاح ورسره کړي ده نوهم طلاق نه واقع کیږي لمامر.

(۳۹)اوکه خاوندوویل انت طالق امس (ته پرون طلاقه یې)حال داچې خاوندله دې سره ترپرون وړاندې نکاح کړې وه نوطلاق فی الحال واقع کیږي ولی چې په دې صورت کې دطلاق نسبت دداسې زمانې طرف ته نه دی چې له طلاق سره منافی ده ولی کومې زمانې ته چې یې دطلاق نسبت کړی دی په هغه زمانه

کې دا ښځه د ده منکوحه ده هغه لهذا طلاق واقع کیږي او څرنګه چې انشاء فی الماضی انشاء فی الحال ده ځکه نو داسې طلاق فی الحال واقع کیږي .

(۴۰) وَأَنتِ طَالِقٌ مالم أُطَلِّقكِ او مَتَى لم أُطَلِّقكِ وَسَكَتَ طَلَقَتْ (۴۱) وفي إن لم أُطَلِّقكِ او إذا أُطَلِّقكِ او إذا مالم أُطَلِّقكِ لَا حتى يَمُوتَ أَحَدُهُمَا (۴۲) أَنتِ طَالِقٌ مالم أُطَلِّقكِ أَنتِ طَالِقٌ طَلَقَتْ هذه الطَّلقة

ترجمه: ته طلاقه یې کله چې زه تا ته طلاق درنه کړم یا په کوم وخت کې زه تا ته طلاق درنه کړم یا تر کومه وخته پورې چې زه تا ته طلاق درنه کړم او خاموش شو نو طلاق واقع کیږي ، او په دې جملو کې چې که زه تا ته طلاق درنه کړم یا کله چې زه تا ته درنه کړم یا تر څو چې زه تا ته طلاق درنه کړم طلاق نه واقع کیږي تر څو چې یو مړ شي ، ته طلاقه یې تر کله چې زه تا ته طلاق درنه کړم ته طلاقه یې نو دا ورستنی طلاق واقع کیږي .

تشریح: (۴۰) که خاوند وویل انت طالق مالم اطلقک (ته دې طلاقه یې تر کله چې زه تا ته طلاق درنه کړم) یا یې وویل ، انت طالق متی لم اطلقک (ته طلاقه یې په کوم وخت چې زه تا ته طلاق درنه کړم) ، یا یې وویل انت طالق متی مالم اطلقک (ته طلاقه یې تر څه وخته سې زه تا ته طلاق درنه کړم) او خاوند خاموش شو نو له خاموشې سره متصل پر ښځې طلاق واقع کیږي ولې چې خاوند طلاق داسې زمانې ته منسوب کړ کومه زمانه چې له طلاق ورکولو څخه خالي وي او هغه زمانه کوم وخت چې خاوند خاموش شو موجوده شوه لهذا له خاموشې وروسته نو را طلاق واقع کیږي .

(۴۱) قوله ولی ان لم اطلقک او اذا لم اطلقک ای فی قول الزوج انت طالق ان لم اطلقک الخ ، یعنی که خاوند وویل انت طالق ان لم اطلقک (ته طلاقه یې که ما تا ته طلاق درنه کړ) یا یې وویل انت طالق اذا لم اطلقک ، یا یې وویل انت طالق اذا مالم اطلقک (ته طلاقه یې کله چې زه تا ته طلاق درنه کړم) نو په دې دریو صورتونو کې د امام صاحب په نزد احد الزوجین له مرګ څخه لږ وړاندې د یاس پروخت طلاق واقع کیږي یعنی کله چې له ژوند څخه مایوس شي نو طلاق واقع کیږي ولې چې په دې صورتونو کې طلاق معلق شوی دی د خاوند له طرف څخه د طلاق د نه ورکولو پورې او عدم تطلیق هغه وخت متحقق کیږي کله چې خاوند له ژوند څخه بالکل مایوس شي ولې چې له ژوند څخه له مایوس کیدلو وړاندې هروخت د طلاق ورکولو امکان شته لهذا د یاس پروخت چې کله د عدم تطلیق شرط متحقق شي نو طلاق واقع کیږي .

ف: د صاحبینو په نزد په دوهم او دریم صورت کې څرنګه زوج خاموش شي نو طلاق واقع کیږي ولې چې لفظ اذا د وخت په معنی کې مستعمل دی کما قال الله تعالی ﴿واذا الشمس کورت﴾ (یعنی کوم وخت چې لمر بې نوره شي) ، د شرط په معنی نه ده لهذا د متی او متی ما په شان دی د کومو تفصیل چې تیر شو چې د خاوند له خاموشۍ سره طلاق واقع کیږي . امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایي چې لفظ اذا د شرط او وخت دواړو لپاره مستعمل دی نو که د شرط په معنی کې مستعمل وي نو د لفظ ان په شان به طلاق فی الحال نه واقع کیږي او که د وخت معنی کې مستعمل وي نو د متی په شان به فی الحال طلاق واقع کیږي لهذا په وقوع طلاق او عدم وقوع کې شک دی او د شک په صورت کې طلاق نه واقع کیږي .

ف: د صاحبینو قول راجح دی لما فی الشامیة : (قوله مثل ان عنده) ای فلا تطلق عنده مالم یمت احدهما وتطلق عندهما للحال بسکوته والحاصل ان اذا عنده هنا حرف لمجرد الشرط لانها تستعمل ظرفا وحرفا فلا یقع الطلاق للحال بالشک وهذا قول بعض النحاة کما فی المغنی

لکن ذکران جمهورهم علی الهاءمتضمنة معنی الشرط ولاتخرج عن الظرفیة قال فی البحروهومرجح لقولهماهاولذرجحه فی فتح القدیر(ردالمحتار:۲/۳۸۲)

(۴۲)قوله انت طالق مالم اطلقک انت طالق ای لوقال الزوج لامرأته انت طالق الخ .یعنی که خاوند ښځې ته وویل انت طالق مالم اطلقک انت طالق (ته طلاقه یې په هغه وخت کې چې زه تاته طلاق درنه کړم ته طلاقه یې)نوددې جملې په اخری لفظ انت طالق سره یو طلاق واقع کیږي دقیاس تقاضاخوداده چې په مخکنۍ جمله سره هم یو طلاق واقع شي ولې چې دمخکنۍ جملې انت طالق والاطلاق یې په داسې زمانه پورې معلق کړی دی چې له تطلیق څخه خالي وي اوهغه زمانه موجوده شوه په دې ډول چې له مخکنۍ جملې څخه له فراغت وروسته ددوهمې جملې ترتکمیل پورې زمانه دعدم تطلیق زمانه ده لهذا په دې زمانه کې په مخکنۍ جمله سره باید طلاق واقع شوی وای .همدادامام زفر رحمه الله قول دی .داستحسان وجه داده چې دقسم دسرته رسولوزمانه په دلالت حال سره له یمین څخه مستثنی وي ځکه چې له قسم څخه همداقسم پوره کول مقصودوي لهذادانت طالق دتکمیل په زمانه کې به هغه معلق طلاق نه واقع کیږي .

(۴۳)أَنتِ كَذَا يَومَ أَتَزَوَّجُكِ فَنَكَحَهَا لَيلًا حَنِثَ (۴۴)بِخِلَافِ الأَمرِ بِاليَدِ (۴۵)انا منكِ طَالِقٌ لَغوٌ وَإِن نَوَى (۴۶)وَتَبِينُ فِي البَائِنِ وَالحَرَامِ (۴۷)أَنتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا أو مع موتي او مع موتك لغو (۴۸)وَلَو مَلَكَهَا او شِقصَهَا او ملكته او شقصه بطل العقد (۴۹)فَلَو اشتراها وطلقها لم يقع

ترجمه :ته طلاقه یې کومه ورځ چې زه له تاسره نکاح وکړم بیاده نکاح وکړه په شپه کې نوحانث کیږي ،په خلاف دامر بالید ،زه له تاڅخه طلاق یم لغودی که څه هم یې دطلاق نیت کړی وي ،اوجداکیږي په لفظ دبائن اوحرام سره ،ته طلاقه یې یوبانه یې یازماله مرګ سره یاستاله مرګ سره لغودی،اوکه خاوند دټولې ښځې یادهغې دیوه جزء مالک شو یاښځه دټول خاوند یادهغه دیوه جزء مالکه شوه نوباطلیږي عقدنکاح ،نوکه یې واخیسته اوطلاق یې ورکړنونه واقع کیږي .

تشریح :(۴۳)قوله انت کذایوم اتزوجک ای لوقال الزوج لامرأته انت طالق یوم اتزوجک ،یعنی که چاخپلې ښځې ته وویل انت طالق یوم اتزوجک ،ته طلاقه یې په کومه ورځ چې زه له تاسره نکاح وکړم بیایې په شپه کې له همدې ښځې سره نکاح وکړه نوحانث کیږي یعنی طلاق واقع کیږي ولې چې لفظ یوم که له فعل ممتدسره مقترن شولکه نکاح کول ،طلاق ورکول وغیره بیادمطلق وخت په معنی دی ،دبیاض نهارپه معنی نه دی اومطلق وخت شپې ته هم شامل دی لهذا په شپه کې دنکاح کولوپه صورت کې هم طلاق واقع کیږي ولې چې نکاح کول فعل غیرممتددی .

ف:له فعل ممتدڅخه مراددادی چې دهغه په کولوکې وخت لګیږي لکه روژه نیول ،یوځای سکونت اختیارول ،اوله فعل غیرممتدڅخه مراداداسې فعل دی چې په هغه کې طویل وخت نه لګیږي بلکه مطلق وخت ورته کافي وي لکه نکاح کول طلاق ورکول وغیره .

(۴۴)په خلاف ددې صورت چې څوک خپلې ښځې ته ووایې امرک بیدک یوم یقدم زید، ستااختیار ستاپه لاس کې دی په کومه ورځ چې زیدراشي ،چې په دې صورت کې به ښځې ته هغه وخت اختیاروي چې کله زیدپه ورځ کې راشي وجه یې داده چې لفظ یوم که له فعل ممتدسره مقترن وو نوبیادبیاض نهارپه معنی دی دمطلق وخت په معنی نه دی چې شپې ته هم شامل شي ،اودزیدله سفر څخه

قدوم ځرنګه چې په راتلوسره وجود پيدا کوي اوراتلل فعل ممتد دی لهذا په دي صورت کې به له لفظ يوم څخه بياض نهارمرادوي مطلق وخت به مراد نه وي .

(۴۵)قوله انامنک طالق لغووان نوی ای لوقال الزوج لامرأته انامنک طالق لغووان نوی الطلاق ،يعنی که خاوند خپلې ښځې ته ووېل انامنک طالق (ماته ستاله طرفه طلاق دی)نواحناف فرمايي چې دده داويل لغو دي که څه هم ده دطلاق ورکولونيت کړی وي حال داچې ائمه ثلاثه فرمايي چې که ده دطلاق نيت کړی وونوطلاق واقع کيږي ولې چې طلاق دازاله نکاح لپاره مشروع کړل شوی دی اونکاح په ښځه اونارينه دواړه سره قائمه ده لهذادطلاق نسبت دنارينه طرف ته هم صحيح دی لکه ځرنګه چې دښځې طرف ته صحيح دی .داحنافو دليل دادی چې طلاق دازاله قيدلپاره مشروع شوی دی اوقيدخوپه ښځه کې دی په نارينه کې خوهيڅ قيدنشته پياله نارينه څخه دازاله قيد څه مطلب دی .

(۴۶)قوله وتبين فی البائن والحرام ای تبين المرأة لوقال الزوج لامرأته انامنک بائن اوقال اناعليک حرام ،يعنی که خاوندخپلې ښځې ته ووېل انامنک بائن (زه له تاڅخه بائن يم)ياېې ووېل ،اناعليک حرام (زه پرتاحرام يم)نوکه خاونددطلا ق نيت کړي وو نوطلا ق واقع کيږي ولی چې دابانت لفظ دتعلق اوپيوست والی دزائلولولپاره دی اوتعلق په ښځه اونارينه دواړوکې مشترک دی لهذاابانت له دواړوڅخه دهريوه طرف ته منسوب کول صحيح دی ،همداشان دتحريم لفظ دحلت دزائلولولپاره دی اوحلت هم په دواړوکې مشترک دی لهذادتحريم لفظ نسبت هم ددواړوطرف ته صحيح دی .

(۴۷)قوله انت طالق واحدة اولاای لوقال الزوج لامرأته انت طالق واحدة اولا،اوقال انت طالق مع موتی اوقال انت طلاق مع موتک، يعنی که خاوندخپلې ښځې ته ووېل ،انت طالق واحدة اولا(ته دي په يوه طلا ق طلاقه يې يادي نه يې)ياېې ووېل انت طالق مع موتی (ته طلاقه يې زماله مرګ سره)ياېې ووېل ،انت طالق مع موتک (ته طلاقه يې ستاله مرګ سره)نوپه دي دري واړه صورتونوکې طلاق نه واقع کيږي .امام محمد رحمه الله فرمايي چې په اولنی صورت کې يورجعی طلاق واقع کيږي ولی چې داولاپه لفظ سره په واحدة کې شک پيداشولهذاپه واحدة طلاق نه واقع کيږي مګرانت طالق خوسالم پاتې دی لهذپه انت طالق يورجعی طلاق واقع کيږي .

دشيخينوپه نزدطلاق نه واقع کيږي ولی قاعده داده چې کله عددله وصف سره مقارن وي نوطلاق په عددواقع کيږي لهذاپه انت طالق ثلاثاکې طلاق په عدديعنی ثلاثالفظ سره واقع کيږي نه په انت طالق سره که نه نو بياثلاثاويل لغوه کيږي، نوکله چې طلاق په عددسره واقع کيږي نوانت طالق واحدة اولاکې په انت طالق سره طلاق نه واقع کيږي په واحدة واقع کيږي مګرداولاپه وجه شک پيداشو لهذپه دي سره هم طلاق نه واقع کيږي.

په وروستنيودووصورتونوکې بالاتفاق طلاق نه واقع کيږي ولی قاعده داده چې که لفظ دمع له مصدرسره ذکرشونوهغه دبعدپه معنی سره وي لهذاانت طالق مع موتی دانت طالق بعدموتی په معنی دی نوپه وروستنيودووصورتونوکې بالاتفاق طلاق په دي وجه نه واقع کيږي چې دي کې طلاق داسې حالت ته

منسوب کړل شوی دی کوم چې له طلاق سره منافي دی یعنی دزوج او وجه د مرګ طرف ته منسوب کړل شوی دی، او دزوج مرګ له اهلیت طلاق سره منافي دی او دزوجه مرګ له محلیت طلاق سره منافي دی حال داچې دوقوع طلاق لپاره دزوج اهلیت او دزوجه محلیت طلاق لازم دی.

(۴۸) که خاوند دخپلې منکوحه (کومه چې دبل کس مینځه وي) مالک شو یا دهغې دیوجزء مالک شو، یا بنځه دخپل خاوند (کوم چې دبل کس غلام وي) مالکه شوه یادده دیوجزء مالکه شوه نو په دې دواړو صورتونو کې ددوئ ترمنځ عقدنکاح باطلیږي یعنی په داړوکي بغیر طلاق فرقت واقع کیږي ولې چې دملک نکاح او ملک یمین په منځ کې منافات دی لهذا دملک یمین په راتلو سره ملک نکاح ختمیږي ولې چې که بنځه دخپل خاوند مالکه شي نو د مالکیت او مملوکیت اجتماع راځي ولې چې دملک نکاح په وجه بنځه مملوکه ده او دملک رقبه په وجه مالکه ده او په مالکیت او مملوکیت کې منافات دی لهذا ددوئ ترمنځ به نکاح ختمیږي. او که خاوند دخپلې بنځې مالک شو نو ځکه چې ملک نکاح ضرورة دی ځکه چې ملک نکاح پر ازاده بنځه ثابتیږي او پر ازادې بنځې باندې ملک ثابتول خلاف قیاس دی او کوم شئ چې خلاف قیاس ثابت وي هغه ضرورة ثابت وي نو کله چې خاوندله ملک رقبه ثابت شو کوم چې قوی دی نو ملک نکاح کوم چې دضرورت پر بناء ثابت شوی وو دهغه ضرورت پاتې نه شو لهذا اختمیږي.

(۴۹) نو که خاوند خپله بنځه واخیسته بیا یې طلاق ورکړ نو طلاق نه واقع کیږي ولې چې وقوع طلاق مقتضی ده ددې چې اول به خاوند او بنځه په نکاح کې وي بیا به طلاق واقع کیږي حال داچې په مذکوره صورت کې نکاح دملک رقبه د ثابتیدلو په وجه پاتې نه شو لهذا طلاق هم نه واقع کیږي.

(۵۰) أَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ مَعَ عِتْقِ مَوْلَاكِ إِيَّاكِ فَأَعْتَقَ لَهُ الرَّجْعَةُ (۵۱) وَلَوْ تَعَلَّقَ عِتْقُهَا وَطَلْقَتَاهَا بِمَجِيءِ الْغَدِ فَجَاءَ لَا وَعِدَّتُهَا ثَلَاثُ حِيَضٍ (۵۲) أَنْتِ طَالِقٌ هٰكَذَا وَأَشَارَ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ فَهِيَ ثَلَاثٌ

ترجمه: ته په دوه طلاقه طلاقه یې ستا دمولی تا لره له ازادولو سره نو مولی ازاده کړه نو خاوندلره رجوع جائزده، او که یې معلق کړه دې ازادې او طلاق په صبا پورې نو صبا راغی نو رجوع نشي کولی او ددې عدت درې حیضه دی، ته دې طلاقه یې دومره، او په دریو ګوتو سره یې اشاره وکړه نو دا درې طلاقه شمارل کیږي.

تشریح: (۵۰) که خاوند خپلې بنځې (کومه چې دبل مینځه وي) ته وویل، ته طلاقه یې په دوه طلاقه ستا دمولی تا لره له ازادولو وروسته، بیا مولی دا ازاده کړه نو هغه په دې دوو طلاقو سره مغلظه نه ګرځي بلکه اوس هم خاوند ته درجوع کولو حق شته ولې چې خاوند دا دوطلاقه په شرط یعنی دمولی له طرفه ددې تر ازادولو پورې معلق کړي دي او معلق بالشرط دشرط له موجودیدلو څخه وروسته ثابتیږي لهذا دا طلاقونه به له ازدیدلو څخه وروسته واقع کیږي او له ازدادې وروسته ځکه چې داحره ده لهذا ځه دوو طلاقو سره مغلظه نه ګرځي. نو کله چې مغلظه نه ده نو خاوندلره به درجوع کولو حق حاصل وي، هو که دا مینځه وای نو بې شکه به په دوو طلاقو سره مغلظه شوې وای.

ف: سوال دادی چې دمع لفظ خودمقارنت په معنی دی حال داچې تا یې معنی په بعد سره کړې ده؟ ځواب دادی چې دمع لفظ دبعد په معنی هم مستعملیږي کماقال الله تعالی ﴿فان مع العسر یسرا﴾ ای بعد العسر یسرا، دا معنی یې

ځکه د ه چې په عسر او يسر کې تضاد دی په يوه وخت کې دواړه نشي جمع کيدای ،نو دلته هم مع د بعد په معنی دی.

(۵۱)او که مولی د مينځې ازادي او خاوند دي دوه طلاقه په ضباپوري معلق کړل مثلا مولی وويل اذاجاء غد فانتِ حرة ،او خاوند وويل اذا جاء غد فانتِ طالق ،نو د صبا په راتلو سره دا ازاديږي هم او طلاقيږي هم ،او د شيخينو په نزد خاوندلره د رجوع حق هم نشته ولې چې عتق او طلاق دواړه په يوه شرط پوري معلق دي لهذا دواړو وقوع به معاوي ،نو طلاق ځرنګه چې له ازادي څخه وروسته نه دی لهذا په دوو طلاقو سره مغلظه کيږي نو په همدي وجه به خاوندلره د رجوع حق حاصل نه وي ،ليکن باتفاق ائمه ثلاثه به دا ښځه احتياطاعدت دري حيضه تيروي.

(۵۲)قوله انت طالق هكذاالخ اى لوقال الزوج لامرأته انت طالق هكذاالخ ،يعنی که خاوند خپلې ښځې ته د دريو ګوتو په وربنکاره کولو سره وويل ته طلاقه په دومره ،نو دا په دري طلاقه طلاقه کيږي ځکه په ګوتو سره اشاره کول چې کله له عدد مبهم سره مقترن وي نو داشرعاًاو عرفاً دعلم بالعدد فائده ورکوي يعنی په څومره ګوتو سره چې يې اشاره کړي ده هغومره عدد به مراد وي لهذا د دريو ګوتو په اشاره سره به دري طلاقه واقع کيږي.

ف:بيا د طلاق په عدد کې د خلاصو ګوتو اعتبار دی او که چا په بندو ګوتو سره د اشارې نيت کړی وي نو ديانة خو دده تصديق کيږي مګر قضاء به د ده تصديق نه کيږي لکه ځرنګه چې دورغوې حکم دی کمالی شرح التنوير:(وتعتبر المنشورة) لا المضمومة الاديانة ككف،قال ابن عابدين :(قوله ككف)يعني اذانوى الكف صدق ديانة وقعت عليه واحدة لان الكف واحدة(الدرالمختار مع الشامية:۲/۳۸۵)

(۵۳)أَنتِ طَالِقٌ بَائِنٌ او أَلبَتَّةَ او أَفحَشَ الطَّلَاقِ (۵۴)او طَلَاقَ الشَّيطَانِ او البِدعَةِ او كَالجَبَلِ او أَشَدَّ الطَّلَاقِ او كَأَلفٍ او مِلءَ البَيتِ او تَطلِيقَةً شَدِيدَةً او طَوِيلَةً او عَرِيضَةً فَهِيَ وَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ إِن لَم يَنوِ ثَلَاثًا

ترجمه :ته طلاق يې بائن يا ته طلاقه يې بته يا فحش طلاق ،يا طلاق شيطان يا بدعت طلاق يا د غره شان طلاق يا سخت طلاق يا د زرو په شان طلاق يا په ډک کور يا شديد طلاق يا طويل طلاق يا پلن طلاق نو دا يو طلاق بائن دی که نيت و نه کړي د دريو.

تشريح :(۵۳)قوله انت طالق بائن اى لوقال الزوج لامرأته انت طالق بائن الخ ،يعنی که خاوند طلاق په يو زائد وصف سره متصف کړه نو دا به طلاق بائن وي مثلا وي ويل انت طالق بائن يا يې وويل انت طالق البته (ته په بائن طلاق طلاقه يې)په دي مثالونو کې بائن په دي وجه واقع کيږي چې په دي کې خاوند طلاق په زائد وصف سره متصف کړی دی د کوم چې لفظ طلاق احتمال هم لري يعنی ده طلاق په داسې شي (يعنی بينونت)سره متصف کړی دی د کوم چې لفظ طلاق (انت طالق) احتمال لري ځکه چې قبل الدخول په انت طالق سره بائن طلاق واقع کيږي همداشان بعد الدخول په انت طالق ويلو سره له عدت تيريدلو څخه وروسته طلاق بائن واقع کيږي نو لفظ بائن يا البته له دوو احتمالو څخه ديوه تعين وکړ يعنی دبائن والی ځکه نو په دي سره بائن طلاق واقع کيږي .همداشان که خاوند وويل انت طالق افحش الطلاق (ته په فحش طلاق طلاقه يې) نو هم

بائن طلاق واقع کيږي ولی چې طلاق به دي وصف سره دده داثر په اعتبار سره متصف کړل شوی دی او هغه فی الحال بائن والی دی لهذا په دي سره فی الحال بائن طلاق واقع کيږي .

(۵۴)قوله اوطلاق الشيطان ای لوقال الزوج لامرأته انت طالق طلاق الشيطان ،يعنی خاوند ښځې ته وويل انت طالق طلاق الشيطان اوطلاق البدعة (ته طلاقه يې دشيطان په طلاق ياته طلاقه يې په بدعت طلاق)نوهم طلاق بائن واقع کيږي ولی چې طلاق رجعی خوسنی دی لهذاطلاق شيطان ياطلاق بدعت به بائن وي همداشان که خاوندوويل انت طالق کالجبل (ته دي دغرپه شان په طلاق طلاقه يې)نوهم طلاق بائن واقع کيږي ولی چې له غره سره په تشبيه ورکولوزيادت ثابتيږي بيا دزيادت دوه صورته دي ، من حيث العدداومن حيث الوصف ،من حيث العددزيادت خونشي کيدای ځکه چې په غره کې تعددنشته لهذازيادت من حيث الوصف مراددی اومن حيث الوصف زيادت په طلاق بائن کې دی لهذطلاق بائن واقع کيږي ،همداشان که خاوندوويل انت طالق اشدالطلاق اوکالف اوملأالبيت اوتطليقة شديدة (ته طلاقه يې په سخت طلاق يادکور ډکولو په برابرپه طلاق ياپه اشدطلاق ياپه اوږده طلاق ياپه پلن طلاق)نوپه دي ټولومثالونوکې هم طلاق بائن واقع کيږي ولی چې په اولنيودوصورتونوکې له تشبيه ځخه کله په قوت کې زيادت مرادوي مثلاوويل کيږي هوالف رجل (هغه زرسړيه دی)يعنی هغه دزروکسانوطاقت لري اوکله له دي تشبيه ځخه مرادعددوي لهذدواړونيت کول صحيح دی اودنيت دعدم په وخت کې به اقل ثابتيږي .اودتطليقة شديدة دويلوپه وخت کې ځکه طلاق بائن واقع کيږي چې شديدهغه دی دکوم چې تدارک ناممکن وي اوطلاق بائن همداشان دی .اولفظ طول اوعرض هم په هغه ځای کې مستعمليږي چيرته چې تدارک مشکل وي نوطلاق بائن هم ځرنګه چې مشکل دی په دي وجه په دي الفاظوسره هم طلاق بائن واقع کيږي.په مذکوره بالاصورتونوکې به طلاق بائن هغه وخت وي چې خاونددريو طلاقونيت نه وي کړی اوکه خاونددريو طلاقو نيت کړی وي نودري طلاقه واقع کيږي ولی چې بينونت پردوه قسمه دی غليظه ،خفيفه ،نوکله چې ده ددريوطلاقونيت وکړنوګوياله دواړوځخه يې دغليظه نيت وکړولی چې دري طلاقه بينونت غليظه دی اوطلاق بائن مغلظ دخاونددکلام محتمل هم دی اودکلام دمحتمل نيت کول صحيح هم دی ،اوکه خاوندهيڅ نيت نه وو کړی نوادنی يعنی يوطلاق بائن به ثابتيږي ولی چې ادنی متيقن دی.

فصل في الطلاق قبل الدخول

دافصل دطلاق قبل الدخول په بيان کې دی

ځرنګه چې نکاح ددخول لپاره کيږي له دخول ځخه وړاندي دطلاق لپاره نه کيږي په دي وجه له دخول ځخه وروسته طلاق ورکول دضرورت په بناء اصل دی اوله دخول ځخه وړاندي طلاق ورکول خلاف اصل دی ځکه نومصنف اصل يعنی طلاق بعدالدخول له دي ځخه وړاندي بيان کړاوخلاف اصل يعنی طلاق قبل الدخول اوس بيانوي .

(۵۵) طلق غير الموطوءة ثلاثاً وقعن (۵۶) وان فرق بانت بواحدة (۵۷) ولو ماتت بعد الايقاع قبل العدد لغا (۵۸) ولو قال انت طالق واحدة وواحدة او قبل واحدة او بعدها واحدة تقع واحدة (۵۹) وفي بعد واحدة او قبلها واحدة او مع واحدة او معها ثنتان (۶۰) ان دخلت الدار فانت طالق واحدة وواحدة فدخلت تقع واحدة (۶۱) وان اخر الشرط فثنتان

ترجمه: طلاق ورکړ خاوند غير موطوءه ښځې ته دري طلاقه نو دري واړه واقع کيږي، او که يې متفرق ورکړل نو بائنه کرځي په يوه سره، او که مړه شوه له ايقاع طلاق څخه وروسته اوله عدد ذکرکولو څخه وړاندي نو لغوه کيږي، او که يې وويل ته طلاقه يې په يوه او يوه يا له يوه څخه وړاندي يا له يوه څخه وروسته نو يو واقع کيږي، او (دخاوند په دي دول ويل ته طلاقه يې) په يوه له يوه څخه وروسته يا له کوم څخه چې وړاندي يو وي يا له کوم سره چې يو وي (ها ضمير څخه بغير اوله هاء ضمير سره يو ځای) دوه واقع کيږي، که ته کورته داخله شې نو ته طلاقه يې په يوه او يوه نو داخله شوه نو يو واقع کيږي، او که يې مؤخر کړ شرط نو دوه واقع کيږي.

تشريح: (۵۵) که چاخپلې ښځې ته له دخول څخه وړاندي دري طلاقه ورکړل مثلاً وي ويل، انت طالق ثلاثا (ته دي په دري طلاقه طلاقه يې) نو دري واړه طلاقه واقع کيږي ولی چې وقوع طلاق په مذکوره جمله کې حقيقة په مصدر محذوف سره ده اوداعدد دهغه مصدر محذوف صفت واقع شوی دی نو دانت طالق ثلاثامعنی داده چې انت طالق طلاقاثلاثانو په انت طالق سره عليحده طلاق نه واقع کيږي بلکه په طلاقاثلاثاسره يو ځای دري طلاقه واقع کيږي.

(۵۶) که دري طلاقه متفرق کړل مثلاً وي ويل انت طالق، انت طالق، انت طالق نو په اولنی لفظ طلاق سره ښځه بائنه کرځي اوپر ښځه دغير مدخول بهاوالی په وجه عدت نشته نو دخاوند دوهم او دريم ځل طالق طالق دويلو پروخت ښځه اجنبيه شوي ده په دي وجه دوهم او دريم طلاق نه واقع کيږي.

ف: ليکن پورته ذکر شوی حکم هغه وخت دي چې خاوند دخپل کلام په اخرکې شرط يا استثناء وغيره داسې کوم لفظ ذکرنه کړي چې هغه دکلام ابتداء مغيره کړي اوکه په اخرکلام کې داسې شرط ذکر کړ چې هغه اول کلام مغير کاوونو بيا دوجود شرط په وخت کې دري واړه طلاقه واقع کيږي مثلاً خاوند وويل انت طالق، انت طالق، انت طالق ان دخلت الدار نو د دخول دار څخه وروسته دري واړه طلاقه واقع کيږي.

(۵۷) که خاوند اراده وکړه چې خپلې ښځې ته وو ايې انت طالق ثلاثا يا خاوند انت طالق وو ايو تر او سه يې عدد (يعني ثلاثا) نه وو ذکر کړی چې ښځه وفات شوه نو دخاوند دا کلام لغوه دی په دي سره طلاق نه واقع کيږي ولی چې طلاق په عدد سره واقع کيږي اوله عدد ذکرکولو څخه وړاندي ښځه وفات شوه نو محل طلاق پاتې نه شوه لهذا طلاق نه واقع کيږي. ددي مسئلې که څه هم له غير مدخول بهاسره تعلق نشته مګر په دي اعتبار سره له تير شوي مسئلې سره مناسبت لري چې په تيره شوي مسئله کې هم ددوهم او دريم طلاق دواقع کولو پروخت محل طلاق فوت کيږي او په دي کې هم دايقاع طلاق پروخت محل طلاق فوت کيږي.

(۵۸) که خاوند خپلې ښځې ته وويل، انت طالق واحدة وواحدة (ته طلاقه يې په يوه طلاق او په يوه) يا يې وويل انت طالق واحدة قبل واحدة (ته دي طلاقه يې په يو طلاق وړاندي تر يوه طلاق) يا يې وويل انت طالق واحدة بعدها واحدة (ته طلاقه يې په يوه طلاق چې له هغه وروسته يو طلاق دی) نو په دي دري واړه

صورتونو کې یو طلاق واقع کیږي ولې چې ښځه دغیر مدخول بها والې په وجه له یوه طلاق واقع کیدلو ځخه وروسته بائنه شوه لهذا اوس دمحل طلاق دنه وجود په سبب دوهم طلاق نه واقع کیږي .

ف: دراتلونکې مسئلې دزده کولو لپاره دوه اصول یادساتل ضروري دي /نمبر۱. ظرف یعنی قبل اوبعد چې کله ددوو شیانو په منځ کې واقع وي اوپه هاء ضمیرسره مقید وي نو ظرف به دمابعد لپاره صفت وي اوکه په هاء ضمیرسره مقید نه وو نو دخپل ماقبل لپاره به صفت وي . اوله صفت ځخه مراد صفت معنوی دی نحوی نه دی لکه جاءنی زید قبله عمرو یعنی عمرو راندي راغلی وو اوزید وروسته ،ولې چې قبل دعمر صفت دی ،اوجاءنی زید قبل عمرو ،یعنی زید وړاندي راغلی وو اوعمرو وروسته ،ولې چې په دي صورت کې قبل دزید صفت دی . /نمبر۲. دماضی ظرف په منسوبولو سره که طلاق واقع کړای شي نو هغه به په زمانه حال کې واقع کیږي نه په ماضی کې .

(۵۹) قوله ولی بعدواحدة اوقبلهاواحدة الخ ای لوقال الزوج انت طالق واحدة بعدواحدة اوقبلهاواحدة الخ تقع فی هذه الصورطلقتان، یعنی که خاوند خپلې غیرمدخول بهاښځې ته وویل انت طالق واحدة بعدواحدة یعنی ته طلاقه یې په یوه طلاقه وروسته له یوه ځخه ،په دي صورت کې لفظ بعد دماقبل صفت دی داکلام تقاضاکوي ددي چې واحدة ثانیه به په ماضی کې واقع وي اواولی به په حال کې اوپه ماضی کې طلاق واقع کول په حال کې واقع کول دی لهذا دادواړه طلاقه به په حال کې یوځای واقع کیږي لهذا په دي صورت کې دوه طلاقه واقع کیږي ،اوکه خاوند وویل انت طالق واحدة قبلهاواحدة په دي صورت کې قبل دمابعد صفت دی یعنی ته طلاقه یې په یو طلاق له هغه ځخه وړاندي په یوه طلاق ،داکلام ددي تقاضاکوي چې واحدة ثانیه به په ماضی کې واقع وي اواولی په حال کې اوځرنګه چې په ماضی کې طلاق واقع کول په حال کې واقع کول دي لهذا دواړه طلاقه به په حال کې یوځای واقع کیږي لهذیه دي صورت کې به هم دوه طلاقه واقع کیږي، داخیرنیو دوصورتونو وجه داده چې کلمه مع داقتران اواتصال لپاره راځي خواه که له ضمیرسره مقترن وي اوکه نه وي لهذاپه دي دواړه صورتونو کې هم دوه طلاقه یوځای واقع کیږي.

(۶۰) قوله ان دخلت فانت طالق واحدة وواحدة ای لوقال الزوج لامرأته ان دخلت الدارفانت طالق واحدة وواحدة ،یعنی که متعدد طلاقونه په شرط پوري معلق کړل شول اویوپه هغه بل په واوسره عطف کړای شونو ددي دوه صورتونه دي شرط به مقدم وي یابه مؤخروي ،که شرط مقدم وو مثلاً خاوند خپلې ښځې ته وویل ان دخلت الدارفانت طالق واحدة وواحدة (که ته کورته داخله شوي نوته دي طلاقه یې په یوه طلاق اوپه یوه طلاق)بیاهغه کورته داخله شوه نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد یو طلاق واقع کیږي ولې چې واو دمطلق جمع لپاره دی اومطلقاجمع داتصال اوترتیب دواړو احتمال لري نوکه داتصال دمعنی رعایت وکړل شي نودوه واقع کیږي اوکه دترتیب دمعنی رعایت وکړل شي نویو واقع کیږي لکه ځرنګه چې په انت طالق واحدة وواحدة منجز کې صرف یو واقع کیږي نومعلومه شوه چې له یوه ځخه په زائد کې شک دی اودشک په وجه طلاق نه واقع کیږي په دي وجه له یوه ځخه زائد نه واقع کیږي .

ف: دصاحبينو په نزد په دې صورت کې دوه طلاقه واقع کيږي ولې چې واو مطلقا د جمع لپاره راځي لهذا دواړه طلاقه واقع کيږي ولې چې حرف واو د مطلق جمع لپاره راځي لهذا دواړه طلاقه يو ځاى معلق کيږي او يو ځاى واقع کيږي. همدا راز څرنګه چې دشرط دمؤخر کولو په صورت کې دوه طلاقه واقع کيږي همدا شان دتقديم په صورت کې هم دوه طلاقه واقع کيږي. صاحبين رحمهما الله تعالى دشرط دتقديم صورت دشرط دتاخير پر صورت قياسوي، ليکن دا قياس صحيح نه دى ولې چې دتاخير په صورت کې شرط دکلام اول مغير کوي لهذا اول کلام په شرط پورې موقوف پاتې کيږي نوله وجود شرط څخه وروسته دواړه طلاقه واقع کيږي او دتقديم په صورت کې داول کلام مغير کونکى شئ موجود نه دى نو اول کلام به په اخر کلام پورې موقوف هم نه وي په دې وجه دواړه طلاقونه على الترتيب واقع کيږي او ښځه څرنګه چې غير مدخول بها ده ځکه هغه په واحدة اولى سره بائنه ګرځي او ثانيه نه واقع کيږي.

ف: دصاحبينو قول راجح دى کما فى شرح التنوير: (و) تقع (واحدة ان قدم الشرط) لان المعلق کالمنجز: قال ابن عابدين (قوله وتقع واحدة ان قدم الشرط) هذا عنده وعندهما ثنتان ايضا ورجحه الکمال واقره فى البحر (الدر المختار مع الشامية: ۲/۳۹٦)

(٦١) قوله وان اخر الشرط فثنتان اى لو اخر الشرط بان قال انت طالق واحدة وواحدة ان دخلت الدار فالواقع فى هذه الصورة طلقتان يعنى که شرط مؤخرو مثلا خاوند خپلې ښځې ته وويل انت طالق واحدة وواحدة ان دخلت الدار (ته دې طلاقه يې په يو طلاق او په يو طلاق که ته کورته داخله شوې) نو بالاتفاق دوه طلاقه واقع کيږي ولې چې شروع کلام په اخر کلام يعنى شرط پورې موقوف ده نوله وجود شرط وروسته دواړه طلاقه يو ځاى واقع کيږي څرنګه چې په دواړو کې څه ترتيب نشته چې غير مدخول بها په اول طلاق سره بائنه شي او دوهم لغوه وي.

بَابُ الْكِنَايَاتِ

ذا باب دکناياتو په بيان کې دى

کنايات، دکناية جمع ده کنى يکنو يا کنى يکنى مصدر دى. کنايه هغه ده چې دهغه مراد بغيرله نيت څخه ظاهر نه وي او په اصطلاح کې کنايه هغه ته ويل کيږي چې معين شئ په کوم داسې لفظ سره تعبير کړاى شي چې دهغه دلالت پر ده صريح نه وي، په باب دطلاق کې کنايه هغه ده کوم چې دطلاق احتمال لري او په طلاق کې صريح نه وي.

کله چې مصنف ﷺ دصريح له احکامو څخه فارغ شو نو دکناياتو بيان يې شروع کړ، او صريح يې ځکه مقدم ذکر کړ چې په کلام کې اصل صريح دى ولې چې کلام دپوهولو لپاره وضع شوى دى نو دکوم قسم کلام چې په دې مقصد کې ډير دخل وي هغه اصل دى لهذا صريح اصل دى او اصل په نسبت وغير اصل ته دمقدم ذکر کولو ډير حقدار دى.

(٦٢) لا تطلق بها الا بنية او دلالة الحال (٦٣) فتطلق واحدة رجعية في اعتدي واستبرئي رحمك وأنت واحدة (٦٤) وفي غيرها بائنة وان نوى ثنتين وتصح نية الثلاث (٦٥) وهي بائن بتة بتلة حرام خلية برية حبلك على غاربك الحقي بأهلك وهبتك لأهلك سرحتك فارقتك أمرك بيدك اختاري أنت حرة تقنعي تخمري استتري اغربي اخرجي اذهبي قومي ابتغي الأزواج

ترجمه :طلاق نه واقع کيږي په کناياتو مګرپه نيت سره ياپه دلالت حال سره ،اويوطلاق رجعي واقع کيږي په دي الفاظو سره ته عدت تيرکړه اوته خپل رحم پاک کړه اوته يواځې يې ،اوله دي څخه په علاوه بائن واقع کيږي که څه هم دوونيت وکړي اوصحيح دی ددريونيت کول ،اوهغه الفاظ دادي ،ته بائنه يې ،ته بته يې ،ته بتله يې ،ته حرامه يې ،ته خالي يې ،ته بری يې ،ستارسی ستاپراوږوده ،له خپل اهل سره يوځای شه ،ماته هبه کړي ستااهل ته ،ماته پرېښې يې ،ماته جدا کړي يې ، ستامعامله ستاپه لاس ده ،ته خپل ځان اختيارکړه ،ته ازاده يې ،ته پړونی پرسرکړه ،ته څادرپرسرکړه ،ته پرده وکړه ،ليري شه ،ووځه ،ولاړه شه ،خاوندتلاش کړه .

تشريح :(۶۲)دالفاظ طلاق دوهم قسم کنايات دي کنايه هغه ده چې دهغه مرادمستتراومخفی وي ، اوپه کنايه سره طلاق نه واقع کيږي مګرداچې دطلاق نيت موجودشي يادنيت قائم مقام دلالت حال (مثلامذاکره طلاق ،ياغضب)وغيره موجودشي ولی چې الفاظ کنايه صرف دطلاق لپاره نه دي وضع شوي بلکه دطلاق اوغيرطلاق دواړواحتمال لري لهذا دکومې يوې معنی دمتعين کولولپاره ضروري ده چې نيت يادلالت حال موجودشي .

ف:دمصنف ﷫ له عبارت څخه په ظاهرکې دامعلوميږي چې دکناياتوپه ټولو الفاظوسره ددلالت حال پروخت مطلقا طلاق واقع کيږي حال داچې داسې نه ده ،ولی چې احوال دري دي (۱)عام درضامندي حالت (۲)حالت مذاکره طلاق يعنی له خاوندڅخه دښځې دطلاق مطالبه کيږي (۳)دغضب حالت يعنی دزوجينوترمنځ په غصه کې خبري شروع وي .اوالفاظ کنايات هم پردي ډوله دي ،(۱)هغه چې صرف ځواب کيدای شي رداوسب اوشتم نشي کيدای دادري لفظونه دي يعنی امرک بيدک ،اختاری، اعتدي،(۲)هغه چې ځواب هم کيدای شي اوسب اوشتم هم البته دردااحتمال نه لري داپنځه لفظونه دي يعنی خلية ،برية ،بتة ،بائن ،حرام ،(۳)هغه چې دځواب اورددواړواحتمال لري يعنی له خاوندڅخه دښځې دطلاق دمطالبې ځواب هم کيدای شي اوردهم کيدای شي البته سب اوشتم نه شي کيدای داپنځه لفظونه دي يعنی اخرجی، واغربی ،اذهبی ،قومی ،تقنعی ،اوددي مرادف الفاظ ،نودعام رضا په حالت کې له مذکوره بالادريوقسمولفظونوڅخه يولفظ هم طلاق نه دی ولی چې ټول لفظونه دطلاق اوغيرطلاق دواړواحتمال لري لهذاپه نيت سره به طلاق ياعدم طلاق متعين کيږي اوپه عدم نيت کې به دخاوندقول مع اليمين معتبروي .اودمذاکره طلاق په حالت کې قضاء په هرهغه لفظ سره طلاق واقع کيږي کوم چې درداحتمال نه لري اوداول اودوهم قسم الفاظ دي ،په دي صورت کې که قائل دعدم نيت دعوه کوي نودده تصديق به نه کيږي .اوپه حالت دغضب کې په هرهغه لفظ سره طلاق واقع کيږي کوم چې دسب اوشتم اورداحتمال نه لري دااول قسم الفاظ دي ،البته په داسې الفاظوسره طلاق نه واقع کيږي کوم چې دسب ،شتم اورداحتمال لری اوداد وهم اودريم قسم الفاظ دي .

(۶۳)يعنی الفاظ کنايه پردوه قسمه دي .يوهغه چې په هغوسره يوطلاق رجعی واقع کيږي اودوهم قسم هغه چې په هغوسره يوطلاق بائن واقع کيږي .داول قسم دري لفظونه دي يعنی اعتدی (ته

عدت تیر کړه)استبرئی رحمک (ته خپل رحم پاک کړه)انت واحدة (ته یوائې یې)،په دي دریوکې هریوه لږ دوه دوه معنی ګاني دي داعتدی یومعنی ده ته خپلې دعدت ورځې شمار کړه اودوهمه معنی یې ده چې ته دالله تعالی نعمتونه شمار کړه ،نوکه خاونداولی معنی نیت کړی وي نودده په نیت سره اوله معنی متعینه کیږي اودامعنی دطلاق دمقدم والی تقاضاکوي ولې چې دعدت دتیرولوحکم کول بغیرله طلاق څخه صحیح نه دی لهذاطلاق به سابقامقدرګڼل ضروري دی ګویاخاوندوویل طلقتک اوانت طالق فاعتدی (ماتاته طلاق درکړی دی یاته طلاقه یې لهذاته عدت تیرکړه)ځکه نوپه دي وخت کې یوطلاق رجعی واقع کیږي.اوددوهم لفظ یعنی استبرئی رحمک یوه معنی داده چې ته عدت تیرکړه ولې چې له عدت تیرولوڅخه مقصوددرحم پاکوالی دی نوګویادعدت مقصودصراحتاذکرکړل شو نواستبرئی رحمک داعتدی په معنی شواودوهمه معنی یې داده چې ته له حیض څخه رحم پاک کړه ترڅوپه مسنونه طریقه سره طلاق درکړل شي په دي صورت کې که یې داولنۍ معنی نیت کړی وي نومعنی اوله متعینه کیږي اودامعنی دطلاق سابق مقتضی ده کمامر.

ددریم لفظ یعنی انت واحدة یوه معنی داده چې واحدة دمصدرمحذوف صفت وګرځول شي یعنی انت تطلیقة واحدة اودوهمه معنی یې داده چې خاونددي صفت کوي اووایې چې ته زمادپه نزدیوه دانه یې یاته زمادپه قوم کې یوه دانه یې، یعنی ستاپه شان کومه ښځه نشته ،نوکه داولنۍ معنی نیت یې کړی وي نوګویاده انت تطلیقة واحدة وویل اوپه دي کلام سره یورجعی طلاق واقع کیږي لهذاپه انت واحدة سره هم یورجعی طلاق واقع کیږي .

(۶۴)قوله وفي غيرهاانت بائنة اى فى غيرهذه الالفاظ الثلاثة تطلق طلقة واحدة بائنة ،یعنی له پورته ذکرشوي الفاظوڅخه علاوه په نوروکنایه لفظونوسره یوطلاق بائن واقع کیږي که یې دیوه نیت کړی وي یایې ددوونیت کړی وي اوکه یې ددریونیت کړی وو نودري طلاقه واقع کیږي ،په دوئ سره طلاق بائن ځکه واقع کیږي چې داالفاظ صرف له طلاق څخه کنایه نه دي بلکه له طلاق علی وجه البینونة څخه کنایه دي.

په دي الفاظوسره ددوونیت کول صحیح نه دی که خاونددووطلاقونیت وکړنوهم یوطلاق واقع کیږي البته ددریو طلاقونیت کول صحیح دی وجه یې داده چې بینونة پردوه قسمه دی ،خفیفه (له دریوڅخه دلږوطلاقوپه صورت کې)،مغلظه(ددریوطلاقوپه صورت کې)نوځرنګه چې لفظ ددواړو احتمال لري لهذادکوم یوه نیت چې وکړي هغه واقع کیږي البته ددوونیت کول صحیح نه دی ولې چې دوه عددمحض دي اومذکوره الفاظ پرعدددلالت نه کوي لهذا ددوو طلاقودنیت په صورت کې به ادنی البینونتین یعنی یوطلاق بائن واقع کیږي .

(۶۵)له مذکوره بالادریولفظونوماسواباقی الفاظ کنایه دادي مثلادخاونداقول ،انت بائن (ته لماڅخه جدایې)بتة، وبتلة (ددي دواړوالفاظومعنی یوه ده یعنی ستاله ماسره تعلق قطع دی)، انت حرام (ته پرماحرامه یې)،انت خلیة (ته پرینبودل شوي یې)،انت برية (ته بری یې)،حبلک علی غاربک (ستالګام ستاپراوږودی یعنی ستااختیارستادی)، الحقی باهلک (ته له خپلوقریبانوسره یوځای شه

)،وهبتک لاهلک (ماته ستاقريبانوته هبه کړي يې)،سرحتک (ماته پريښې يې)،فارقتک (ماته جدا کړي يې)،امرک بيدک (ستامعامله ستاپه لاس کې ده)،اختاری (توخپل ځان اختيار کړه)، انت حرة (ته ازاده يې)،تقنعی (ته پړونی پرسر کړه)،تخمری (ته څادر پرسر کړه)،استتری (ته پرده وکړه)، اغربی (ته ليرې شه)،اخرجی (ته ووځه)،اذهبی (ته لاړه شه)،قومی (ته ودرېږه)،ابتغی الازواج (ته خاوندان تلاش کړه).

(٦٦) وَلَوْ قَالَ اعْتَدِّي ثَلَاثًا وَنَوَى بِالْأَوَّلِ طَلَاقًا وَبِمَا بَقِيَ حَيْضًا صُدِّقَ (٦٧) وَإِنْ لَمْ يَنْوِ بِمَا بَقِيَ شَيْئًا فَهِيَ ثَلَاثٌ (٦٨) وَتَطْلُقُ بِلَسْتِ لِي بِامْرَأَةٍ أَوْ لَسْتُ لَكِ بِزَوْجٍ إِنْ نَوَى طَلَاقًا (٦٩) وَالصَّرِيحُ يَلْحَقُ الصَّرِيحَ وَالْبَائِنَ وَالْبَائِنُ يَلْحَقُ الصَّرِيحَ لَا الْبَائِنَ (٧٠) إِلَّا إِذَا كَانَ مُعَلَّقًا بِأَنْ قَالَ إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ بَائِنٌ ثُمَّ قَالَ أَنْتِ بَائِنٌ

ترجمه:اوکه خاوند دري ځله ووېل ،ته عدت تېر کړه اوپه اول سره د طلاق نيت کړی وو اوپه مابقی سره دحيض نو دده تصديق به کېږي ،اوکه په مابقی سره يې هيڅ نيت نه وکړی نو دري طلاقه دي ،او طلاق پرې که يې ووېل چې ته زما ښځه نه يې يازه ستا خاوند نه يم که يې نيت کړی وو په دي سره د طلاق ،او صريح طلاق يوځای کېږي له صريح او بائن دواړو سره او بائن يوځای کېږي له صريح سره نه له بائن سره ،مگر دا چې هغه معلق وي مثلا وي ويل که ته داخله شوې کورته نو ته بائنه يې بيا يې (بلاتعليق) ووېل ته بائنه يې .

تشريح:(۶۶)که خاوند خپلې ښځې ته داعتدی لفظ دري ځله ووايو مثلاوي ويل ،اعتدی ،اعتدی ، اعتدی، اوپه دي دريو الفاظو کې په اول باندي د طلاق نيت اوپرباقی باندي دحيض يعني عدت تيرولو نيت وکړ نو قضاء به دده تصديق کيږي ولی چې دخپل کلام دحقيقت نيت کړی دی اوعادت هم همدادی چې خاوند له طلاق ورکولو څخه وروسته دعدت دتيرلو امر کوي لهذا ظاهر حال ده لره شاهد دی.

(۶۷)اوکه خاوند دري ځله اعتدی ووېل ،په اول ځل يې د طلاق نيت وکړ اوپه باقی دوځله داعتدی لفظ دويلو پروخت يې هيڅ نيت نه وکړ نو دري طلاقه واقع کيږي ولی چې کله ده په اول لفظ سره د طلاق نيت وکړه نو اوس داحالت دمذاکره طلاق شو لهذا دوهم اودريم لفظ دمذاکره طلاق په حالت کې دصدورېږه وجه دطلاق لپاره متعين دی.

(۶۸)اوکه خاوند خپلې ښځې ته ووېل ،ته زما ښځه نه يې ،يايې ووېل زه ستا خاوند نه يم ،نو که په دي دووجملوسره يې نيت دطلاق وکړ نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد طلاق واقع کيږي ،حال داچې دصاحبينو په نزد طلاق نه واقع کيږي ولی چې دخاوند په دي قول سره دنکاح نفي ثابتيږي کوم چې درواغ ده نو دادا سې شو لکه خاوند چې خپلې ښځې ته ووايي چې لم اتزوجک ،لهذا په دي سره طلاق نه واقع کيږي .امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادی چې دخاوند داقول له نکاح څخه دانکار او انشاء طلاق دواړو صلاحيت لري نو کله چې ده د طلاق نيت وکړ نو طلاق واقع کيږي ولی چې ده دخپل قول دمحتمل نيت کړی دی .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الدرالمختار:لست لک اوزوجک اولست لی امراة الی ان قال طلاق ان نواه خلافالهما،قال ابن عابدين:تحت قوله طلاق ان نواه)لان الجملة تصلح لانشاء الطلاق کماتصلح لانکاره فيتعين الاول بالنية لانه لايقع بدونها اتفاقا(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۴۹۱)

(۶۹)اوصريح طلاق له بل صريح اوبائن هريوه طلاق سره يوځای کيږي دطلاقو ديوځای والی معنی داده چې له يوه طلاق ورکولو څخه وروسته بل طلاق ورکول کيدای شي مثلاچاخپلې ښځې ته يوځل

وويل ته طلاقه يې ،نوپه دي سره يو طلاق واقع شوييايې وويل ته طلاقه يې نودادوهم طلاق هم واقع شوولې چې اول صريح دی په کوم سره چې يورجعي طلاق واقع شونوځرنګه چېله طلاق رجعي وروسته هم نکاح باقي ده لهذادوهم طلاق هم واقع کيږي .دادالحاق الصريح بالصريح مثال دی .همداشان که يې اول وويل ته بائنه يې ياخاوندله ښځې سره خلع علی المال وکړه نوپه دي سره يو طلاق واقع شوييايې وويل ته په يو طلاق طلاقه يې نواوس دوهم طلاق هم واقع شو لقوله تعالى (فلاجناح فيماافتدت به)(يعنی که زوجينولره داخوف وي چې ضوابط قائم نشوساتلای نوهيڅ ګناه نشته پردواړوپه دي کې چې ښځه بدل ورکړي اوځان خلاص کړي)بياله دي ځخه وروسته فرمايي (فان طلقهافلاتحل له من بعدحتی تنکح زوجاغيره)(بياکه يې دريم طلاق ورکړ نواوس حلاله نه ده ده لره دا ښځه له دي ځخه وروسته ترڅوچې نکاح ونه کړي له کوم خاوندسره له ده ځخه بغير)،فان طلقها کې فاء دتعقيب مع الوصل لپاره ده لهذادانص ده چې دريم طلاق له خلع ځخه وروسته واقع کيږي.

(۷۰)اوطلاق بائن له صريح سره يوځای کيږي مثلاخاوندپه صريح رجعي طلاق ورکولوسره وويل انت طالق ،بيايې وويل انت بائن نودادوهم طلاق واقع کيږي ولی چې نکاح تراوسه پوره باقي ده .مګرطلاق بائن له بل بائن طلاق سره نه يوځای کيږي مثلاوي ويل انت بائن بيابې .وويل انت بائن نوصرف يوطلاق بائن واقع کيږي ولی چې ثانی له اول ځخه خبرجوړول ممکن دي يعنی په دوهم ځل انت بائن ويلوسره ګوياخاوندخبرورکوي چې ماتاته طلاق بائن درکړی دی لهذادادطلاق دانشاء ګرځولوځ ضرورت نشته .البته که اول معلق بالشرط وي مثلاخاوندوويل ،ان دخلت الدار فانت طالق،بيايې وويل انت بائن نوپه دي دوهم ځل انت بائن ويلوسره طلاق واقع شواوس داددهمدي طلاق په عدت کې کورته داخله شوه نوپه دي سره په دي دوهم طلاق هم واقع کيږي ولی چې په اول ځل کې تعليق صحيح دی لهذادوهم ځل انت بائن ويل له اول ځخه خبرجوړول ممکن نه دي اودوجودشرط پروخت دامحل طلاق هم ده لهذا طلاق واقع کيږي.

باب تفويض الطلاق

داباب دطلاق دسپارلوپه بيان کې دی

يعنی داباب دخاونددطلاق دواقع کولودا ختيارکوم بل کس ته دسپارولوپه بيان کې دی خواه که هغه غيرزوجه وي ياوکيل وي .

کله چې مصنف رحمه الله دهغه طلاق له بيان ځخه فارغ شوکوم چې مطلق خپله واقع کوي خواه که هغه صريح وي ياکنائی وي ،نويې دداسې طلاق بيان شروع کړکوم چې دخاوندپه حکم سره کوم بل څوک واقع کوي .اوځرنګه چې خپله دزوج طلاق واقع کول اصل دي اوپه غيرسره واقع کول خلاف اصل دی ځکه يې داله اصل ځخه وروسته ذکرکړ.بيادتفويض لپاره دريوقسمه الفاظ استعماليږي ،تخيير، امرباليد،اومشيت ،مصنف رحمه الله ددي دريودتفصيل لپاره په ترتيب سره دري فصل قائم کړي دي ،په دي دريوکې تخيير ځکه مقدم کړی دی چې داپه صريح دليل سره ثابت دی .

(۷۱) وَلَوْ قَالَ لَهَا اخْتَارِي يَنْوِي بِهِ الطَّلَاقَ فَاخْتَارَتْ فِي مَجْلِسِهَا بَانَتْ بِوَاحِدَةٍ وَلَمْ تَصِحَّ نِيَّةُ الثَّلَاثِ (۷۲) فَإِنْ قَامَتْ أَوْ أَخَذَتْ فِي عَمَلٍ آخَرَ بَطَلَ خِيَارُهَا (۷۳) وَذِكْرُ النَّفْسِ أَوِ الْاخْتِيَارَةِ فِي أَحَدِ كَلَامَيْهِمَا شَرْطٌ

ترجمه: خاوند خپلې ښځې ته وویل اختیار کړه، په دي سره یې د طلاق نیت وکړنو ښځې اختیار کو په همدي مجلس کې نو په یو طلاق سره بائنه کرځي، او د دریو نیت کول صحیح نه دی، او که دا ولاړه شوه یا یې شروع وکړه په کوم بل کار باندي نو باطلیږي د دي اختیار، او د لفظ نفس یا اختیار ذکر له دواړو څخه دیوه په کلام کې شرط دی.

تشریح: (۷۱) که خاوند خپلې ښځې ته وویل، اختاری نفسک (ته خپل ځان اختیار (غوره) کړه) او خاوند په دي سره د طلاق نیت کړی وو که ښځې خپل ځان اختیار کړنو دا په یو طلاق بائنه کیږي په دي شرط چې هغه ښځه په همدي مجلس کې خپل ځان غوره کړي ولې چې د ښځې خپل ځان اختیار ول هغه وخت ثابتیږي کله چې له نفس سره د ښځې اختصاص ثابت شي یعنې د خاوند ملک زائل شي او ښځه د خپل نفس مالکه شي ښکاره ده چې دا امر په طلاق بائن سره حاصلیږي. او که خاوند د دریو طلاقو نیت کړی وو نو دري نه واقع کیږي ولې چې اختیار منقسم الی الاقسام نه دی، په خلاف د بینونت چې هغه خفیفه او غلیظه ته منقسم دی لهذا په بینونت سره د دواړو نیت صحیح دی.

ف: د قیاس تقاضا خو داده چې د اختاری په لفظ سره د نیت طلاق باوجود طلاق واقع نه شي ولې چې خپله خاوند په دي لفظ سره د طلاق د واقع کولو مالک نه دی چنانچه که خاوند وویل اخترک من نفسی نو طلاق نه واقع کیږي او قاعده ده چې د کوم شئ چې انسان په خپله مالک نه وي د هغه بل څوک هم مالک نشي جوړولی، مګر څرنګه چې په دي د امت اجماع ده چې د اختاری په لفظ سره طلاق واقع کیږي لهذا موږ مذکوره قیاس ترک کړ.

(۷۲) که ښځه له دي مجلس څخه ولاړه شوه یا په کوم بل کار مشغوله شوه نو اختیار د دي له لاس څخه ووځي ولې چې ښځې ته د طلاق اختیار ورکول په حقیقت کې دا د طلاق مالکه جوړول دي او تملیکات په هغه مجلس کې د جواب تقاضا کوي کما فی البیع ولې چې د مجلس ټول ساعتونه بمنزله یو ساعت دي لهذا ښځه په مجلس کې طلاق واقع کولی شي مګر د مجلس له بدلیدلو څخه وروسته د اختیار باقی نه پاتې کیږي.

(۷۳) د اختاری په لفظ سره د طلاق واقع کولو لپاره له زوجینو څخه دیوه په کلام کې د نفس یا اختیار لفظ ذکر کیدل ضروري دی مثلا خاوند وواېي اختاری نفسک، ښځه وواېي اخترت یا زوج وواېي اختاری ښځه په ځواب کې وواېي اخترت نفسی، چنانچه که خاوند اختاری وواېو او ښځې په ځواب کې اخترت وواېو نو طلاق نه واقع کیږي ولې چې د نفس لفظ له ذکر کیدلو څخه بغیر د خاوند او ښځې د دواړو قول مبهم دی د ښځې مبهم قول د خاوند د مبهم قول لپاره تفسیر نشي جوړیدلی ولې چې د ښځې په قول اخترت کې لکه څرنګه چې دا احتمال دی چې دا خپل نفس اختیاروي همدا شان دا احتمال هم شته چې ښځه خپل خاوند اختیاروي نو د شک په وجه طلاق نه واقع کیږي، همدا راز د اختاری بائن طلاق کیدل مو ږ ته له اجماع څخه معلوم شوی دی او اجماع په دي تفسیر سره وارده ده چې د کوم یوه په کلام کې د نفس لفظ یا کوم بل

داسې لفظ موجودوي کوم چې تفسیرجوړیدلی شي نوځرنګه چې وارده وي په هغه شان به پاتې کیږي .همداراز که دښځې په قول کې داختیارة لفظ اضافه وي نوهم په دي سره طلاق واقع کیږي ولی چې داختیارة لفظ په زیاتولوسره دښځې قول مبهم نه پاته کیږي ځکه چې په اختیارة کې تاء دوحدة لپاره ده اوتعدداوتوحداحتمال په طلاق کې شته چې طلاق واحدهم کیدای شي اومتعددهم ،په خلاف دزوج اختیارول ځکه چې هغه دتعدداوتوحداحتمال نه لري ولی چې خاوند اختیارول دنکاح باقی ساتل دي په کوم کې چې تعددنشته .

(۷۴)وَلَوْ قَالَ لَهَا اخْتَارِي فَقَالَتْ أَنَا أَخْتَارُ نَفْسِي أَوِ اخْتَرْتُ نَفْسِي تَطْلُقُ (۷۵)وَلَوْ قَالَ اخْتَارِي اخْتَارِي اخْتَارِي فَقَالَتْ اخْتَرْتُ الْأُولَى أَوِ الْوُسْطَى أَوِ الْأَخِيرَةَ أَوِ اخْتِيَارَةً وَقَعَ الثَّلَاثُ بِلَا نِيَّةٍ (۷۶)وَلَوْ قَالَتْ طَلَّقْتُ نَفْسِي أَوِ اخْتَرْتُ نَفْسِي بِتَطْلِيقَةٍ بَانَتْ بِوَاحِدَةٍ

ترجمه :اوکه خاوندښځې ته وویل خپل نفس اختیارکړه هغې وویل زه اختیاروم خپل نفس یامااختیارکړاخپل نفس نوطلاق واقع کیږي ،اوکه خاوندښځې ته دري ځله وویل اختیارکړه ،ښځې وویل مااختیارکړاول یامنځنی یااخیري ،یایې وویل مااختیارکړاختیارکول نودري طلاقه واقع کیږي بغیرله نیت څخه ،اوکه ښځې وویل چې ماطلاق ورکړخپل نفس ته یامااختیارکړخپل نفس په یوه طلاق سره نوبائنه ګرځي په یوه طلاق سره .

تشریح :(۷۴)که خاوندوویل ته خپل نفس اختیارکړه ښځې وویل انااختارنفسی (زه خپل نفس اختیاروم)یایې وویل اخترت نفسی (ماخپل نفس اختیارکړ)نویوطلاق واقع کیږي ولی چې دښځې دواړه کلامه مفسردي یعنی په دواړوکې دنفس لفظ ذکردی لهذاطلاق واقع کیږي .مګرپه اولنی صورت کې دقیاس تقاضاداده چې طلاق واقع نه شي ولی چې اختارفعل مضارع ده کوم چې محض داختیاروعده ده اوپه وعده اختیارسره طلاق نه واقع کیږي لیکن استحساناًدوقوع طلاق حکم شوی دی ولی چې په دی صورت کې په وقع طلاق باندي دصحابه کرامو ﷺ اجماع ده .همداراز حضرت عائشه ﷺ دنبی کریم ﷺ په ځواب کې فرمایلي وو لابل اختارالله ورسوله ،نوسره له دي چې په دي کې لفظ داختارمضارع ده بیاهم نبی کریم ﷺ معتبرکړی وو .

(۷۵)که خاوندخپلې ښځې ته دري ځله وویل اختاری،اختاری،اختاری،(خپل ځان اختیار کړه)ښځې وویل اخترت الاولی اوالوسطی اوالاخیرة (مااولنی یامنځنی یااخیرنی اختیارکړی دی)، نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددخاوندله نیت څخه بغیردري طلاقه واقع کیږي ،اودصاحبینوپه نزددخاوندله نیت څخه بغیریوطلاق واقع کیږي ،دخاونددنیت ضرورت ځکه نشته چې دلته داختاری لفظ تکراردطلاق پرمعنی دلالت کوي ولی کوم اختیارچې مکرروي هغه دطلاق په باره کې وي نودقرینه دوجودپه وجه دخاونددنیت ضرورت نشته .

دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې دخاوندپه اختیارورکولو ر هغه ددریوداسې طلاقومالکه ګرځي کوم چې مجتمع فی الملک دي اومجتمع فی الملک غیرمرتب وي اوهرهغه شئ کوم چې غیرمرتب وي دهغه په باره کې داسې کلام کوم چې دترتیب لپاره وي لغوه دی لهذادښځې قول ، الاولی اوالوسطی اوالاخیرة لغوه دی نواوس صرف دښځې قول اخترت پاتې شوکوم چې دریوطلاقو لپاره ځواب جوړیدلی

شي لهذا دښځې په دې قول سره درې طلاقه واقع کيږي .دصاحبينو دليل دادی چې دښځې قول الاولی اوالوسطی اوالاخيرة بې شکه دترتيب فائده نه ورکوي مګردافراد فائده خو ضرورورکوي نوويل کيږي چې ښځې له دريو څخه صرف يوطلاق اختيار کړی دی لهذا يوطلاق واقع کيږي .

اوکه ښځې وويل ،اخترت اختيارة (مااختيارکړاختيارکول)نوبالاتفاق درې طلاقه واقع کيږي ولې چې که دې صرف اخترت ويلی وای نودرې طلاقه واقع کيدل اوس چې کله دې له اخترت سره تاکيديعنی اختيارة هم ذکرکونو په طريقه اولی سره به درې طلاقه واقع کيږي .

ف :داخترت الاولی اولوسطی اوالاخيرة دويلو په صورت کې دصاحبينو قول راجح دی لمافی الهندية :وان کررقوله اختاری ثم وقوع الثلاث بقولها اخترت الاولی اوالوسطی اوالاخيرة قول ابی حنيفة رحمه الله وعندهماتطلق واحدة ،قوله وعندهماتطلق واحدة هوالمختار کمافی الدر (هنديه: ۱/۳۸۹)

(۷۶)اوکه دخاوند دقول اختاری اختاری اختاری په ځواب کې ښځې وويل طلقت نفسی اواخترت نفســی بتطليقة (ماځپل نفس ته يوطلاق ورکړيا ماځپل نفس په يوه طلاق سره اختيارکړ)نودا په يوه بائن طلاق سره طلاقيږي ولې چې دخاوندله طرفه تفويض اختيارمؤثردی په کوم سره چې طلاق بائن واقع کيږي اودښځې له طرفه په صريح لفظ سره ايقاع طلاق مؤثرنه ده .صاحب هدايه درجعی طلاق قول کړی دی کوم چې شراحوردکړی دی ولې چې ښځه تصرف کوي دخاوندله طرفه دتفويض طلاق په نتيجه کې ،اودخاوندله طرفه تفويض دبائن طلاق دی ولی چې داتفويض له کناياتوڅخه دی په کوموسره چې طلاق بائن واقع کيږي.

(۷۷)أمرک بيدک في تطليقةٍ او اختاري تطليقةً فاختارت نفسها طلقت رجعيةً

ترجمه :(که خاوندووېل)ستامعامله ستاپه لاس کې ده ديوه طلاق په باره کې ،يايې ووېل اختيارکړه يوطلاق، نوښځې خپل نفس اختيارکړنويورجعی طلاق واقع کيږي.

تشريح :(۷۷)قوله امرک بيدک فی تطليقة ای لوقال الزوج لامرأته امرک بيدک الخ ،يعنی که خاوندخپلې ښځې ته ووېل امرک بيدک فی تطليقة (ديوه طلاق په باره کې ستااختيارستاپه لاس کې ده)يايې ووېل اختاری تطليقة (ته يوطلاق اختيارکړه)ددې په ځواب کې ښځې ووېل ماخپل نفس اختيارکړنوپردې يورجعی طلاق واقع کيږي ولې چې خاوندصريح طلاق تفويض کړی دی اوپه صريح طلاق سره جعی طلاق واقع کيږي .

فصل في الأمر باليد

په دې فصل کې مصنف رحمه الله دامرباليدتفصيل بيان کړی دی .په امرباليداواختيارکې فرق دادی چې داختيارپه صورت کې ددريوطلاقونيت کول صحيح نه دی حال داچې په امرباليدکې صحيح دی .

(۷۸)أمرک بيدک ينوي ثلاثاً فقالت اخترت نفسي بواحدةٍ وقعن (۷۹) ولي طلقت نفسي واحدةً او اخترت نفسي بتطليقةٍ بانت بواحدةٍ

ترجمه: (خاوندووېل)ستامعامله ستاپه لاس کې ده حال داچې ده دريوطلاقونيت کړی دی اوښځې ووېل مااختيارکړی دی خپل نفس په يوه وارسره نودرې واړه طلاقه واقع کيږي ،او(که يې ووېل)ماخپل نفس ته يوطلاق ورکړی دی يامااختيارکړی دی خپل نفس په يوه طلاق سره نوبائنه کرځي په يوه طلاق سره.

تشريح :(۷۸)قوله امرک بيدک اى لوقال الزوج لامرأته امرک بيدک الخ ،يعنى كه خاوند دريو طلاقو په نيت كولوسره ښځې ته وويل امرک بيدک(ستا اختيارستا په لاس دى)ښځې په ځواب كې وويل اخترت نفسى بواحدة(ماځپل نفس په يووارسره اختياركړى دى)نودري طلاقه واقع كيږي ولى چې امرباليد دعموم(يعنى دري طلاقه)اودخصوص (يعنى يو طلاق) دواړو احتمال لري زوج دثلاثه په نيت كولوسره له دومحتملو امروڅخه ديوه تعين وكړكوم چې صحيح دى لهذا دري طلاقه واقع كيږي .

(۷۹)قوله ولى طلقت نفسى بواحدة اى فى قولها فى جواب الزوج لما قال لها امرک بيدک طلقت الخ ،يعنى كه زوج وويل امرک بيدک (ستا امرستا په لاس دى)ښځې په ځواب كې وويل طلقت نفسى بواحدة (ماځپل نفس ته يوطلاق وركړى دى)ياېې وويل اخترت نفسى بتطليقة (ماځپل نفس په يوه طلاق سره اختياركړى دى)نوپه دې دواړو صورتونو كې يوبائن طلاق واقع كيږي ،ديوه طلاق دواقع كيدلو وجه داده چې په اولنى صورت كې دښځې په قول كې لفظ دواحدة دموصوف مقدرلپاره صفت دى ،اى طلقت نفسى تطليقة واحدة (ماځپل نفس په يوه طلاق سره طلاق كړى دى)لهذا اطلاق به يووي .اوپه دوهم صورت كې په بتطليقة كې تاء دوحدة لپاره ده لهذا په دې صورت كې به هم يو طلاق واقع كيږي ،اوپه دواړو صورتونو كې بائن په دې وجه دى چې اعتبارد خاوندله طرف څخه سپارولوته دى نه دښځې ايقاع لره ،او خاوندبائن طلاق سپارلى دى ولى چې دخاوند قول امرک بيدک كنايه دى اوپه كنايې سره بائن طلاق واقع كيږي .

(۸۰)وَلَايَدْخُلُ اللَّيْلُ فِي أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ وَبَعْدَ غَدٍ وَإِنْ رَدَّتِ الْأَمْرَ فِي يَوْمِهَا بَطَلَ أَمْرُ ذَلِكَ الْيَوْمِ وَكَانَ بِيَدِهَا بَعْدَ غَدٍ (۸۲)وَفِي أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ وَغَدًا يَدْخُلُ وَإِنْ رَدَّتْ فِي يَوْمِهَا لَمْ يَبْقَ فِي الْغَدِ

ترجمه :اوشپه به داخله نه وي په دې ويلو كې چې ستا امرستا په لاس دى نن اوله صباڅخه وروسته (يعنى صبانه بله ورځ) اوكه ښځې ردكړ اختيار دهمدې ورځې نوباطليږي دهمدې ورځ اختيار او اختيار دې په لاس كې پاتې كيږي صبانه بله ورځ ،اوپه دې ويناكې چې ستا معامله ستا په لاس ده نن او صبانو شپه به داخله وي.
اوكه يې ردكړ دهمدې ورځ اختيارنو باقى نه پاتې كيږي اختيارپه صباورځ كې.

تشريح :(۸۰)كه خاوند ښځې ته وويل ،امرک بيدک اليوم وبعدغد(نن ستا امرستا په لاس كې دى اوله صباڅخه وروسته يعنى صبانه بله ورځ ستا امرستا په لاس كې دى)نودخاوند په دې ويناكې به شپه داخله نه دي يعنى په شپه كې به ښځه اختيارنه لري ولى چې ديوم لفظ چې كله مفرد ذكروي نوداشپې لره شامل نه وي ،اوكه ښځې دنن اختيارردكړنو صحيح دى ددې دنن اختيارباطليږي مګرله صباڅخه وروسته يعنى دصبانه بلې ورځې اختيارېې باقى دى ولى چې ده دوه داسې وختونه ذكركړي دي دكوموپه منځ كې ددوئ له جنس څخه يوداسې وخت شته چې هغه ته امرشامل نه دى نوپه بعدغد ذكركولوسره داول وخت يعنى اليوم امتداد مرادنه دى نوښځې لره دوه جلا جلا وختونو كې اختيارثابت شولهذا كه هغه ديوه وخت اختيارردكړي نوپه دې سره ددوهم وخت اختيارنه رديږي .

(۸۱)اوكه خاوندوويل ،امرک بيدک اليوم وغدا(ستا امرستا په لاس دى نن اوصبا)نوپه دې اختياركې شپه هم داخله ده لهذا ددې اختيار به دصباورځې ترلمرلويدوپورې وي ،نوكه ښځې په شپه كې خپل ځان اختياركړنو طلاق واقع كيږي ولى چې خاوند اليوم اوغدپه حرف جمع يعنى واوسره جمع كړي دي

او الجمع بحرف الجمع كالجمع بلفظ الجمع وي نو ګويا خاوند وويل امرک بيدک يومين ،لهذا دا شپې لره هم شامل دی ،په خلاف د تير شوي صورت چې په هغه کې د دوو وختونو په منځ کې يو داسې وخت فاصل دی کوم لره چې لفظ امر شامل نه دی نو هغه په امرک بيدک يومين سره تعبيرول صحيح نه دی .او په دې صورت کې که ښځې دن ورځې اختيار رد کړ نو د صبا ورځې اختيار هم د دې له لاس څخه وځي ولې چې په دې صورت کې دا امر واحد دی لهذا په ردولو سره دې لره اختيار باقی نه پاتې کيږي .

ف:له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه يو روايت دا دی چې دن ورځې دامر باليد په ردولو سره په صبا ورځ کې نه رديږي بلکه صبا ورځ خپل ځان اختيارولی شي ولې چې ښځه لکه څرنګه چې د ايقاع طلاق د ردولو قدرت نه لري همدا شان دامر باليد د ردولو قدرت هم نه لري يعنی که خاوند خپلې ښځې ته وويل انت طالق نو پر ښځه په هر صورت طلاق واقع کيږي خواه که يې داقبول کړي او که يې قبول نه کړي ،همدا شان دامرک بيدک دويلو په صورت کې هم ښځې لره امر باليد ثابتيږي که څه هم داهغه قبول نه کړي نو کله چې دښځې په ردولو سره امر باليد نه رديږي نو دا خپل نفس اختيارولی شي .

(۸۲)وَلَوْ مَكَثَتْ بَعْدَ التَّفْوِيضِ يَوْمًا أَوْ لَمْ تَقُمْ أَوْ جَلَسَتْ عنه أَوْ اتَّكَأَتْ عَنْ الْقُعُودِ أَوْ عَكَسَتْ أَوْ دَعَتْ أَبَاهَا لِلْمَشُورَةِ أَوْ شُهُودًا لِلْإِشْهَادِ أَوْ كَانَتْ عَلَى دَابَّةٍ فَوَقَفَتْ بَقِيَ خِيَارُهَا (۸۳)وَإِنْ سَارَتْ لَا وَالْفُلْكُ كَالْبَيْتِ

ترجمه :او که ښځه ځنډ وکړ له تفويض څخه وروسته يوه ورځ او ولاړه نه شوه يا کښينستله د قيام له حالت څخه يا يې تکيه وکړه له حالت قعود څخه يا يې د دې عکس وکړ يا يې را وغوښتی خپل پلار د مشورې لپاره يا يې ګواهان د ګواه جوړولو لپاره را وغوښتل يا دا په کومه سورلی باندې سوره وه نو ودريده نو باقی به وي د دې اختيار ،او که روانه شوه نو نه به وي او کښتی د کور په شان ده .

تشريح :(۸۲)که خاوند ښځې اختيار ور کړ يا هغه ښځه ټوله ورځ ناسته پاتې شوه ولاړه نه شوه يا ولاړه وه کښينستله يا ناسته وه او س يې تکيه ولګوله يا يې تکيه لګولې وه او س سمه کښينستله يا يې د مشورې لپاره خپل پلار را وغوښتی يا يې د ګواه جوړولو لپاره ګواهان را وغوښتل يا په سورلی باندې سوره وه هغه سورلی ودريده نو په دې ټولو صورتونو کې به د دې اختيار باقی وي ولې چې له دې امورو څخه يو هم داعراض دليل نه دی چې دا وفهميږي چې دې د زوج له طرفه دې ته ورکړل شوی اختيار رد کړ لهذا او س هم دا خپل ځان ته طلاق ور کولی شي.

ف:دا په هغه وخت کې ده چې تفويض مطلق وي يعنی په کوم وخت پورې مقيد نه وي او که تفويض په کوم وخت پورې مقيد وو نو په ولاړيدلو او کښينستلو وغيره سره نه باطليږي بلکه د وخت په تيريدلو سره باطليږي

(۸۳)قوله وان سارت لا ای ان سارت الدابة بعد التفويض لايبقی خيارها،يعنی که له اختيار ورکول کيدلو څخه وروسته هم د دې سورلی روانه پاتې شوه نو اختيار ختميږي ولې چې د سورلی روانيدل يا دريدل ښځې ته منسوب دي نو ګويا ښځه په خپله روانه ده کوم چې داعراض دليل دی او په اعراض سره اختيار باطليږي . او کښتی د کور په شان ده يعنی که کښتۍ روانه شوه نو په دې کې د کور په شير ښځې ته اختيار باقی پاتې

کيږي هغه دسورلی په شان نه ده چې په رفتار سره اختيار ختم شي وجه يې داده چې د کښتۍ رفتار په کښتۍ کې دسواره طرف ته منسوب نه دی په همدي وجه خوسور د کښتۍ پر درولو قادر نه دی.
ف: له امام ابو يوسف رحمه الله څخه روايت دی چې که کښتۍ ولاړه وه او خاوندښځې ته اختيار ورکړ بيا کښتۍ روانه شوه نو اختيار باطليږي.

فصل في المشيئة

داد غير په ذريعه سره د طلاق واقع کولو دريم فصل دی په کوم کې چې مصنف رحمه الله د مشيت د لفظ په ذريعه سره د اختيار ورکولو حکم بيان کړی دی.

(۸۴)وَلَوْ قَالَ لَهَا طَلِّقِي نَفْسَكِ وَلَمْ يَنْوِ أَوْ نَوَى وَاحِدَةً فَطَلَّقَتْ وَقَعَتْ رَجْعِيَّةٌ(۸۵)وَإِنْ طَلَّقَتْ ثَلَاثًا وَنَوَاهُ وَقَعْنَ(۸۶)وَبِأَبَنْتُ نَفْسِي طَلُقَتْ (۸۷)لَا بِاخْتَرْتُ(۸۸)وَلَا يَمْلِكُ الرُّجُوعَ وَتَقَيَّدَ بِمَجْلِسِهَا إِلَّا إِذَا زَادَ مَتَى شِئْتِ(۸۹)وَلَوْ قَالَ لِرَجُلٍ طَلِّقْ امْرَأَتِي لَمْ يَتَقَيَّدْ بِالْمَجْلِسِ إِلَّا إِذَا زَادَ إِنْ شِئْتَ

ترجمه:که خاوند ښځې ته وويل خپل نفس ته طلاق ورکړه او هيڅ نيت يې نه وو کړی يا يې ديوه طلاق نيت کړی وو نو ښځې طلاق ورکړ نو واقع کيږي يو طلاق رجعي ،او که دې دري طلاقه ورکړل او خاوند يې نيت کړی وو نو دري واقع کيږي او (که يې وويل)ما خپل نفس جلا کړ نو طلاق واقع کيږي ،او طلاق نه واقع کيږي په دې ويلو سره چې ما خپل نفس اختيار کړی دی ،او خاوند د رجوع کولو مالک نه پاتې کيږي او اختيار د ښځې په مجلس پوري مقيد کيږي مګر دا چې د متی شئت لفظ اضافه کړي.

تشريح:(۸۴)که د خاوند د قول طلقی نفسک (خپل نفس ته طلاق ورکړه)په ځواب کې ښځې خپل ځان ته طلاق ورکړ خواه که د خاوند هيڅ نيت نه وي يا يې ديوه طلاق نيت کړی وي نو يو طلاق واقع کيږي او هغه به هم رجعي وي ،يو طلاق ځکه واقع کيږي چې د خاوند د قول طلقی نفسک معنی افعلی فعل الطلاق ده او طلاق جنس دی د کوم چې اطلاق پر ادنی باندي يقيني وی او ادنی يو دی ځکه يو طلاق واقع کيږي،او رجعي ځکه دی چې تفويض د صريح طلاق دی او په صريح طلاق سره رجعي طلاق واقع کيږي.

(۸۵)او که ښځې ځان ته دري طلاقه ورکړل او خاوند هم د دې نيت کړی وو نو دري طلاقه واقع کيږي ولی چې د طلقی معنی افعلی فعل الطلاق ده او طلاق مصدر اسم جنس دی له کوم څخه چې يو طلاق مراد وي مع احتمال الکل نو که د کل نيت وو نو دري واړه واقع کيږي که نه نو يو واقع کيږي.

(۸۶)قوله ولو قال لها طلقی نفسک فقالت في جوابه ابنت نفسی طلقت رجعية ،يعني که د خاوند د قول طلقی نفسک (ځان ته طلاق ورکړه)په ځواب کې ښځې وويل ابنت نفسی (ما ځان ته بائن طلاق ورکړ) نو يو رجعي طلاق واقع کيږي ولی چې ابانت د طلاق له الفاظو څخه دی نو په اصل ايقاع کې ښځه له خاوند سره موافقه ده البته خاوند له عدت څخه وروسته دي لره د ابانت صفت ثابتول غواړي ښځې له خاوند څخه په مخالفت کولو سره په صفت ابانت کې تعجيل وکړ لهذا اصل طلاق به واقع کيږي او د ابانت صفت لغوه دی.

ف: له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه روايت دی چې په مذکوره بالاصورت کې هم طلاق نه واقع کيږي ولی چې خاوند ښځې ته دطلاق اختيارورکړی دی او ښځې ابانت واقع کړی دی ښکاره خبره ده چې په طلاق او ابانت کې مغائرت دی نو دښځې کلام دخاوند له کلام سره دنه موافقت په وجه لغوه دی.

(۷۸) قوله لاباخترت ای لاتطلق لوقال لها طلقی نفسک فاجابت بقولها اخترت ،يعنی که په مذکوره بالاصورت کې دخاوندپه ځواب کې ښځې وويل اخترت (ماخپل ځان اختيارکړ) نوطلاق نه واقع کيږي ولی چې اختياردطلاق له الفاظو څخه نه دی، البته دخاوندله طرفه ښځې ته داختيارورکولوپه صورت کې دښځې اخترت ويل بالاجماع طلاق دی ،ليکن دلته خو خاونداختيارنه دی ورکړی يعنی خاوندښځې ته اختاری نه دی ويلی بلکه طلقی يې ويلی دی لهذا دښځې اخترت ويل لغوه دی او په دي لغوه کې دمشغوليدوپه وجه امرطلاق هم دښځې له لاس څخه ووتی.

(۱۸۸) که خاوندښځې ته وويل طلقی نفسک (ته خپل ځان ته طلاق ورکړه) نو اوس خاوندله خپل دي قول څخه رجوع نه شي کولی ولی چې په دي کې ديمين معنی موجوده ده په دي وجه چې ده طلاق دښځې په طلاق ورکولوپوري معلق کړی دی او يمين تصرف لازم دی له کوم څخه چې درجوع اختيارنه وي .اودزوج له طرفه په تفويض طلاق کې دا اختيارترهغه مجلس پوري وي چې په هغه کې دي لره اختيارورکړل شوی دی ولی چې دادتمليکاتوله قبيلې څخه دی اوتمليکات په مجلس پوري مقيدوي .هوکه خاوندپه اختيارورکولوسره وويل طلقی نفسک متی شئت (ته خپل ځان طلاق کړه کله چې وغواړي)يعنی متی شئت لفظ يې اضافه کړنو اوس دښځې دا اختيارپه مجلس پوري مقيدنه دی ولی چې دمتی لفظ دعموم وخت لپاره دی ګوياخاوندښځې ته وويل طلقی نفسک فی ای وقت شئت (ته خپل ځان طلاق کړه کله چې هم وغواړي).

(۸۹) که خاوندکوم بل کس ته وويل طلق امراتی (ته زماښځې ته طلاق ورکړه)نو دوکيل دا اختيارپه مجلس پوري مقيدنه وي ولی چې داتوکيل دی اوتوکيل په مجلس پوري مقيدنه وي ،البته که خاوندوويل طلق امراتی ان شئت (زماښځې ته طلاق ورکړه که ستاخوښه وي)يعنی دان شئت لفظ يې اضافه کړنوپه دي صورت کې وکيل لره صرف په همدي مجلس کې دطلاق ورکولواختيارشته ولی چې خاوندطلاق په مشئت پوري مقيدکړی دی نودله قبيلې دتمليکاتو دی توکيل نه دی ولی چې په مشيت سره تصرف کونکی مالک وي ،اووکيل خوپه تصرف کولوديانة مجبوروي ترڅوله وعده وکالت څخه مخالفت رانه شي اوتمليکات په مجلس پوري مقيدوي لهذاله همدي مجلس څخه وروسته وکيل لره دطلاق ورکولواختيارنشته.

(۹۰) وَلَوْ قَالَ لَهَا طَلِّقِي نَفْسَكِ ثَلَاثًا فَطَلَّقَتْ وَاحِدَةً أَوْ قَلَعَتْ وَاحِدَةً لَا فِي عَكْسِهِ (۹۱) وَطَلِّقِي نَفْسَكِ ثَلَاثًا إِنْ شِئْتِ فَطَلَّقَتْ وَاحِدَةً أَوْ عَكْسُهُ لَا (۹۲) وَلَوْ أَمَرَهَا بِالْبَائِنِ أَوْ الرَّجْعِيِّ فَعَكَسَتْ وَقَعَ مَا أَمَرَ بِهِ

ترجمه :او که خاوندښځې ته وويل ،ته خپل ځان ته دري طلاقه ورکړه ،هغې ځان ته يو طلاق ورکړنويو واقع کيږي نه د دي په عکس کې ،او (که يې وويل)ته خپل ځان ته دري طلاقه ورکړکه ستاخوښه وي ښځې

يوطلاق وركړاوددي عكس نونه واقع كيږي ،اوكه خاونددي لره حكم وكړدبائن يارجعي اودي دهغه برعكس وكړنوواقع كيږي هغه دكوم چې خاوندامركړى وي.

تشريح :(٩٠)كه خاوندخپلې ښځې ته وويل طلقي نفسک ثلثا(ته خپل ځان ته دري طلاقه وركړه) ښځې په ځواب كې خپل ځان ته يوطلاق وركړنويوطلاق واقع كيږي ولى چې دخاوندپ اختياروركولو سره ښځه ددريوطلاقومالكه ګرځې نوديوه طلاق دواقع كولومالكه هم ګرځي لكه څرنګه چې خپله خاونددريو طلاقومالک دى نوديوه مالک به هم وي. مګرددي په عكس كې طلاق نه واقع كيږي يعنى كه خاوندوويل طلقي نفسک واحدة (ته خپل ځان ته يوطلاق وركړه) ددي په ځواب كې ښځې خپل ځان ته دري طلاقه وركړل نويوطلاق هم نه واقع كيږي ولى خاوندچې دكوم اجازت وركړى دى ښځې هغه نه دى كړى ځكه چې ثلاث دعددمركب مجتمع نوم دى اوواحدة فرددى په كوم كې چې هيڅ ترتيب نشته لهذاپه ثلاث اوواحدة كې مغائرت دى لهذاد ښځې كلام مبتداء كلام شمارل كيږي دزوج دكلام ځواب نه شمارل كيږي .

(٩١)قوله وطلقي نفسک ثلاثاان شئت فطلقت واحدة لااى لوقال الزوج طلقي نفسک ثلاثافطلقت واحدة لايقع شئ كذافى عكسه،يعنى كه خاوندوويل طلقي نفسک ثلاثاان شئت (ته خپل ځان ته دري طلاقه وكړه كه ستاخوښه وي)ښځې په ځواب كې ځان ته يوطلاق وركړياددي صورت عكس وي يعنى خاوندوويل طلقي نفسک واحدة ان شئت (ته خپل ځان ته يوطلاق وركړه كه ستاخوښه وي)ښځې په ځواب كې ځان ته دري طلاقه وركړل نوپه دي دواړو صورتونوكې طلاق نه واقع كيږي نه يونه دري،ولى چې په لومړنى صورت كې دخاونددقول معنى داده چې ان شئت الثلاث فطلق نفسک ثلاثا ،نودوقوع ثلاث لپاره دثلاث مشيت شرط دى اوڅرنګه چې شرط موجودنه شو لهذاطلاق نه واقع كيږي .اوپه دوهم صورت كې ځكه طلاق نه واقع كيږي چې خاوندچې دكوم اجازت وركړى دى ښځې هغه نه دى كړى په دي وجه چې ثلاث دعددمركب مجتمع نوم دى اوواحدة فردى په كوم كې چې هيڅ تركيب نشته لهذاپه ثلاث اوواحدة كې مغائرت دى ،قوله وعكسه لااى لوقال لهاطلقي نفسک واحدةان شئت فطلقت ثلاثالم يقع شئ.

ف:دصاحبينوپه نزدپه دوهم صورت كې يوطلاق واقع كيږي ولى خاوندچې ښځه دكوم شئ مالكه جوړه كړي وه (يعنى ديوطلاق)ښځې هغه واقع كړاوله دي څخه زائديې هم واقع كړ(يعنى دوه نورزائد طلاقونه)نوداداسې شوه لكه چې خاوندخپلې ښځې ته سل طلاقه وركړي نودڅومره طلاقونوچې دى مالک دى(يعنى دري طلاقه)هغه خوواقع كيږي اودكوموچې دى مالک نه دى (يعنى له دريوڅخه زائد)هغه لغوه كيږي .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى لمافى الدرالمختار:(طلقي نفسک ثلاثاان شئت فطلقت واحدةو)كذا(عكسه لا)يقع لهمالاشتراط الموافقة لفظالمافى تعليق الخانية امرهابعشرفطلقت ثلاثااوبواحدة فطلقت نصفه لم يقع (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:٢/٥٢٩)

(٩٢)كه خاوندښځې ته اجازه وركړي وه چې خپل ځان ته بائن طلاق وركړه يايې درجعي اجازه وركړي وه ښځې ددي په ځواب كې سرچپه كاروكړيعنى په اول صورت كې يې خپل ځان ته رجعي طلاق وركړاوپه دوهم صورت كې يې ځان ته بائن طلاق وركړنوپه دواوصورتونوكې هغه طلاق واقع كيږي دكوم

چې خاوند اجازت ورکړی دی کوم وصف چې ښځه بیانوي هغه لغوه دی ولی چې خاونددذات طلاق مع وصف اجازت ورکړی وو ښځې په ذات طلاق کې موافقت اوپه وصف کې مخالفت وکړاوپه وصف کې دمخالفت په وجه سره اصل طلاق نه باطلیږي لهذااصل طلاق له هغه وصف سره واقع کیږي چې دهغه ذکرخاوند کړی دی.

(۹۳) وَأَنْتِ طَالِقٌ إِنْ شِئْتِ فَقَالَتْ شِئْتُ إِنْ شِئْتَ فَقَالَ شِئْتُ يَنْوِي الطَّلَاقَ أَوْ قَالَتْ شِئْتُ إِنْ كَانَ كَذَا الْمَعْدُومُ بَطَلَ (۹۴) وَإِنْ كَانَ لِشَيْءٍ مَضَى طَلَقَتْ (۹۵) وَأَنْتِ طَالِقٌ مَتَى شِئْتِ أَوْ مَتَى مَا شِئْتِ أَوْ إِذَا شِئْتِ أَوْ إِذَا مَا شِئْتِ لَمْ تَرُدَّتِ الْأَمْرَ لَا يَرْتَدُّ (۹۶) وَلَا يَتَقَيَّدُ بِالْمَجْلِسِ وَلَا تُطَلِّقُ إِلَّا وَاحِدَةً

ترجمه: ته طلاقه یې که ستاخوښه وي ښځې وویل زما خوښه ده که ستا خوښه وي خاوند وویل زما خوښه ده او(په دې سره) دطلاق نیت وکړیایې ښځې وویل زما خوښه ده که داسې وشول اودایې دکوم معدوم شئ په باره کې وویل نودا قول باطلیږي، اوکه یې دکوم تیرشوی امرپه باره کې وویل نو طلاق واقع کیږي، ته طلاقه یې کوم وخت چې ستاخوښه شي یاترکومه وخته پورې چې ستا خوښه وي یاکله چې ته وغواړې یاترکله چې ته وغواړې اوښځې داردکړنونه ردیږي، اومقیدبه نه وي په مجلس پورې اوطلاق نه واقع کیږي مګریو.

تشریح: (۹۳) که خاوند خپلې ښځې ته وویل انت طالق ان شئت (ته دې طلاقه یې که ستاخوښه وي) ښځې وویل شئت ان شئت (زماخوښه ده که ستاخوښه وي) خاونددطلاق په نیت کولوسره وویل شئت (زماخوښه ده) یاښځې په ځواب کې دیومعدوم شئ په باره کې وویل چې هوزماخوښه ده که فلانکی کارداسې وشي، نوپه دې داوړوصورتونوکې دښځې قول باطل دی طلاق نه واقع کیږي ولی چې خاوند طلاق په مطلق مشیت پورې معلق کړی وو اوښځې مشیت په ان شئت یاان کان کذاالمعدوم پورې معلق کړلهذادشرط دنه موجودوالی په وجه طلاق نه واقع کیږي. اودخاوندپه شئت قول سره هم طلاق نه واقع کیږي که څه هم دطلاق نیت وکړي ولی چې دښځې په کلام کې دطلاق ذکرنشته (ځکه چې ښځې دانه دي ویلي چې شئت طلاقی) چې خاونددهغه خوښونکی شي اوصرف نیت په غیرمذکورکې عمل نشي کولی.

(۹۴) اوکه په پورته ذکرشوی صورت کې ښځې دکوم داسې شئ طرف ته اشاره وکړه کوم چې له وړاندې څخه شوی وومثلاً وي ویل زه خپل ځان ته طلاق ورکول خوښوم که زیدله سفرڅخه راغی، اوحال داچې زیدله دې څخه وړاندې له سفرڅخه راغلی وو نوپه دې صورت کې پرښځه طلاق واقع کیږي ولی کوم طلاق چې پرداسې شرط پورې معلق وي کوم چې فی الحال موجودوي نوداسې طلاق معلق نه دی بلکه فی الحال واقع کیږي.

(۹۵) قوله انت طالق متی شئت ای لوقال الزوج لامرأته انت طالق متی شئت الخ، یعنی که خاوند خپلې ښځې ته وویل انت طالق متی شئت اومتی ماشئت اواذاشئت اواذاماشئت (ته دې طلاقه یې کوم وخت چې ستاخوښه شي یاترکومه وخته چې ستاخوښه شي یاکله چې ته وغواړې یاترکله چې ستاخوښه شي) ښځې دااختیاررد کړااووي ویل زه طلاق نه خوښوم، نودانه ردنه دی بلکه له ردولوڅخه وروسته هم که ښځه خپل ځان ته طلاق ورکول وغواړي ورکولی یې شي ولی چې خاوندښځه په هغه وخت کې دطلاق مالکه جوړه

کړي ده کوم وخت چې داخپل ځان ته طلاق ورکول خوښ کړي لهذا ښځې له خوښې څخه وړاندي دا د طلاق مالکه نه ده چې ددي په ردولو سره ردشي په دي وجه د ښځې له طرفه ردد اعتبار هم نشته.

(۹۶) قوله ولايتقيد بالمجلس اى لايتقيد ايقاع الطلاق بالمجلس ،يعني په مذكوره بالاصورت کې د ښځې طلاق واقع کول په همدي مجلس پوري مقيدهم نه دي ولی چې داالفاظ ټولو وختونو ته شامل دي نودا داسې شوګويا خاوند ښځې ته وويل انت طالق فی ای وقت شئت ،لهذا ښځه چې کله هم وغواړي طلاق واقع کولی شي .هو په دي الفاظو سره د اختيارورکولو په صورت کې ښځه ځان ته صرف يو طلاق ورکولی شي ولی چې داالفاظ دعموم زماني لپاره راځي نه دعموم افعالو لپاره نو ښځې لره به دعموم زمانې په وجه هروخت دخپل ځان دطلاق ولو اختيار وي ،مګر دعموم افعالو نه وجود په وجه به له يوه طلاق څخه وروسته دبل طلاق دور کولو اختيار نه وي.

(۹۷) ولي كُلَّمَا شِئْتِ لها أن تفرق الثّلاث وَلاتجمع (۹۸) وَلَوْ طَلَّقَتْ بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ لَا يَقَعُ (۹۹) وفي حَيْثُ شِئْتِ وَأَيْنَ شِئْتِ لم تَطْلُقْ حتى تَشَاءَ في مَجْلِسِهَا (۱۰۰) وفي كَيْفَ شِئْتِ تَقَعُ رَجْعِيَّةٌ (۱۰۱) فَإِنْ شَاءَتْ بَائِنَةً أو ثَلَاثًا وَنَوَاهُ وَقَعَ (۱۰۲) وفي كَمْ شِئْتِ او ماشِئْتِ تَطْلُقُ ما شَاءَتْ فيه (۱۰۳) وَإِنْ رَدَّتْ ارْتَدَّ (۱۰۴) وفي طَلِّقِي من ثَلَاثٍ ماشِئْتِ تَطْلُقُ ماذُونَ الثَّلَاثِ

ترجمه :اودكلماشئت ،دويلو په صورت کې ښځې لره اختيار دی چې جلاجلا دري طلاقه واقع کړي اويوځای يې نشي واقع کولی ،اوکه يې طلاق واقع کړله دوهم خاوند څخه وروسته نونه واقع کيږي ، اودحيث شئت اواين شئت ويلو په صورت کې طلاق نه واقع کيږي ترڅو چې داوغواړي په همدي مجلس کې ،اوپه کيف شئت کې رجعی طلاق واقع کيږي، نوکه ښځې بائن يا دري طلاقه خوښ کړل اوخاونددهغه نيت کړی وو نو واقع کيږي ،اوپه کم شئت اوماشئت کې دي طلاق واقع کړي څومره چې يې خوښه وي په همدي مجلس کې ،اوکه ښځې امرردکړ نورديږي ،اوپه دي ويلوکې ته طلاق ورکړه له دريو څخه څومره چې ستاخوښه وي هغه طلاق واقع کولی شي له دريو څخه کم.

تشريح :(۹۷) قوله ولی کلماشئت لهاان تفرق الثلاث ای لوقال الزوج لهاانت طالق کلماشئت فيجوز لهاان تفرق الثلاث ،يعنی که خاوند خپلې ښځې ته وويل انت طالق کلماشئت (ته دي طلاقه يې کله چې هم ستاخوښه شي)نو په دي صورت کې ښځه خپل ځان ته دري طلاقه جلاجلا ورکولی شي په يوځل يوځای دري طلاقه نشي ورکولی ولی چې کلمه دکلما دعموم اوقات اوافعالو دا ړولپاره ده مګر دعموم افرادي لپاره ده داجتماعی لپاره نه ده لهذا هروار ديوه طلاق دواقع کولو مقتضی ده.

(۹۸) اوپه مذکوره بالاصورت کې که ښځې ځان ته دري طلاقه ورکړل ترڅوچې مغلظه شوه اوبيايې له بل خاوندسره نکاح وکړه بياله دوهم خاوند څخه خلاصه شوه دوهم ځل اولنی خاوندته راغله اوس داخاوند دسابقه کلماشئت په کلمه سره د اختيارورکولو په وجه ځان ته طلاق ورکوي نو دا طلاق نه واقع کيږي ولی چې ښځې ته اختيار په ملک سابق کې ورکړل شوی وو اوس خوداجديد ملک دی لهذا په دي ملک کې دي لره ځان ته دطلاق ورکولو اختيار نشته.

(۹۹) قوله وفي حيث شئت الخ ای وفي قول الزوج لامرأته انت طالق حيث شئت ،يعنی که خاوند خپلې ښځې ته وويل انت طالق حيث شئت (ته دي طلاقه يې په کوم ځای کې چې ته وغواړي)يايې وويل اين شئت (ته دي طلاقه

يې چيرته چې ستاخوښه وي)نوښځه په همدي مجلس کې خپل ځان ته طلاق ورکولی شي که داله مجلس ځخه ولاړه شوه نو اختيار ختميږي اوس داځان ته طلاق نه شي ورکولی ،حيث او اين اسماء مکان دي او طلاق په کوم مکان پوري معلق نه وي يعنی داسې نه وي چې طلاق په يوه مکان کې واقع وي او په بل کې واقع نه وي لهذا دالغوه دي نو دمطلق مشيت ذکرباقی پاتې شو او په مطلق مشيت سره چې کوم اختيارثابتيږي هغه په مجلس پوري موقوف وي .

(۱۰۰)قوله ولي كيف شئت اى ولي قول الزوج لامرأته انت طالق كيف شئت ،يعنی که خاوندښځې ته وويل انت طالق كيف شئت (ته دي طلاقه يې په کوم ډول چې ستاخوښه وي)نو دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دښځې له مشيت ځخه وړاندي يورجعی طلاق واقع کيږي ولی چې دکيف کلمه دطلبِ وصف لپاره راځي نه دطلبِ اصل لپاره لهذادزوج له طرفه تفويض په وصف طلاق کې دی او په وصفِ طلاق کې تفويض دطلاق دموجودوالی تقاضاکوي اوداصل طلاق وجودبغيرله وقوع طلاق ځخه نه وي لهذا اصل طلاق خوله مشيت ځخه وړاندي واقع کيږي تر ځوله دي ځخه وروسته دوصف طلاق طلب وکړای شي ،حال داچې دصاحبينو په نزد دښځې له مشيت ځخه وړاندي طلاق نه واقع کيږي .

ف:دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی لماقال المفتي غلام قادر النعماني:القول الراجح هو قول ابی حنيفه ,قال العلامة جلال الدين الخوارزمي وماقاله اولی لان اثبات الموصوف وان کان فيه تخصيص بعض الاوصاف عن التعليق ليصح الاستيصاف اولی من تعليق اصل الطلاق بالمشية....الخ(القول الراجح:۱/۳۲۰)

(۱۰۱)ياکه ښځې يوبائن طلاق خوښ کړيايې دري طلاقه خوښ کړل او خاوندهم دهغه نيت کړی وو نوداواقع کيږي ولی چې دښځې په مشيت اودخاوندپه نيت کې موافقت موجودشو او که دښځې مشيت دخاوندله نيت سره موافق نه وو نو دښځې مشيت لغوه دی دخاوندپه واقع کولو سره يوطلاق واقع کيږي.

(۱۰۲)قوله ولي كم شئت الخ اى ولي قول الزوج لامرأته انت طالق كم شئت الخ ،يعنی که خاوندښځې ته وويل انت طالق کم شئت (ته دي طلاقه يې ځومره اندازه چې ستاخوښه وي)يايې وويل انت طالق ماشئت (ته دي طلاقه يې ځومره چې ستاخوښه وي)نوپه دي دواړوصورتونوکې ښځې په همدي مجلس کې چې ځومره وغواړي طلاق ورکولی شي ولی چې لفظ کم اوما دواړه دعددلپاره استعماليږي او خاوند دهغه عددتفويض کړی دی کوم عددچې ښځه وغواړي لهذاښځه چې ځومره وغواړي خپل ځان ته طلاق ورکولی شي .اودښځې اختيارپه همدي مجلس پوري دمقيدوالی وجه داده چې داامرواحددی او په دي کې داسې کوم لفظ نشته چې په عموم اوقات ياتکراردلالت وکړي لهذافی الحال دځواب دمقتضی والی په وجه به په همدي مجلس پوري خاص وي .

(۱۰۳)اوکه په مذکوره بالاصورت کې ښځې ردکړ يعنی وي ويل چې زه خپل ځان ته طلاق نه ورکول خوښوم نوداردیږي وروسته که داطلاق ورکول وغواړي نو دي لره به اختيارنه وي ولی چې داتفويض د امرواحددی په دي کې تکرارنشته اوداخطاب هم فی الحال دی نوځواب به هم فی الحال غواړي لهذاله همدي مجلس ځخه وروسته به دي لره اختيارنه وي .

(۱۰۴)قوله ولی قول الزوج طلقی نفسک من ثلاث الخ ای لوقال الزوج لامرأته طلقی نفسک من ثلاث الخ ،یعنی که خاوند خپلې ښځې ته وویل طلقی نفسک من ثلاث ماشئت (ته خپل ځان ته طلاق ورکړه له دریوڅخه چې څومره ستاخوښه وي) نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددابنځه ځان ته له دریوڅخه کم طلاقونه ورکولی شي .حال داچې دصاحبینوپه نزددري طلاقه هم ورکولی شي ولی دمالفظ دتعمیم په معنی کې محکم دی اولفظ من کله دتمیز کله دبیان اوکله له دي دواړوڅخه دعلاوه لپاره راځي نودخاوندپه کلام کې محکم اومحتمل دواړه جمع شول اوقاعده ده چې محتمل به په محکم باندي حمل کیږي لهذا لفظ من به بیانیه ګرځول کیږي نودخاونددقول معنی داده چې ته خپل ځان ته چې څومره غواړي طلاقونه ورکړه یعنی دري لهذاتردریوپوري طلاقونه ورکولی شي .دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې لفظ من په تبعیض کې حقیقت دی اولفظ ماپه تعمیم کې حقیقت دی اوپه دواړوعمل کول ممکن هم دی په دي ډول چې بعض عام مرادشي اوددووعددهمداشان دی ولې چې یوه ته په نسبت ددووعددعام دی اودریوته په نسبت بعض دی حال داچې ددریودمرادولوپه صورت کې دلفظ من په معنی باندي عمل نه کیږي .

ف:دامام ابوحنیفه قول راجح دی لمافی الدرالمختار:(قال لهاطلقی)نفسک (من ثلاث ماشئت تطلق مادون الثلاث ومثله اختاری من الثلاث ماشئت)لان من تبعیضة وقالا بیانیة فتطلق الثلاث والاول اظهر (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۵۳۳)

بَابُ التَّعْلِیْقِ

دباب دتعلیق طلاق په بیان کې دی

دتعلیق لغوی معنی ځړول دي دفقهاؤپه اصطلاح کې کومه خبره په کوم کارپوري موقوف کولوته ویل کیږي ګواکی دشرط دوهم نوم تعلیق دی .یعنی دتعلیق معنی ده دیوې جملې دمضمون حصول دبلې جملې دمضمون په حصول پوري تړل لکه چې خاوندخپلې ښځې ته ووایي انت طالق ان دخلت الدار.

مصنف رحمه الله وړاندي طلاق منجزله خپلوټولواقساموسره بیان کړاوس طلاق معلق ذکرکوي دطلاق معلق دمؤخرکولو وجه داده چې طلاق معلق فرع ده اوطلاقِ منجزاصل دی اوښکاره ده چې داصل تقدیم مناسب دی اودفرع تاخیرمناسب دی ،ځکه یې طلاق منجزوړاندي اوطلاق معلق وروسته بیان کړ، همداراز طلاق منجزمفرددی اومعلق له طلاق اوشرط څخه مرکب دی اومرکب له مفردڅخه مؤخروي .

(۱۰۵)إِنَّمَا يَصِحُّ فِي الْمِلْكِ كَقَوْلِهِ لِمَنْكُوحَتِهِ إِنْ زُرْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ أَوْ مُضَافًا إِلَيْهِ كَإِنْ نَكَحْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ فَيَقَعُ بَعْدَهُ (۱۰۶)فَلَوْ قَالَ لِأَجْنَبِيَّةٍ إِنْ زُرْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ فَنَكَحَهَا فَزَارَتْ لَمْ تُطَلَّقْ

ترجمه :تعلیق صحیح دی صرف په ملک کې لکه دخاوندخپلې ښځې ته ویل که تازیارت وکړنوته طلاقه یې یایې دملک طرف ته مضاف کړي لکه که ماله تاسره نکاح وکړه نوته طلاقه یې ،نوواقع کیږي له دي څخه

وروسته ،نوکه یې اجنبیه ته وویل چې که تازیارت وکړنوته طلاقه یې ،بیایې له دي سره نکاح وکړه بیا دي زیارت وکړنو طلاق نه واقع کیږي .

تشریح :(۱۰۵)قوله المایضح لی الملک ای المایصح تعلیق الطلاق فی الملک ،یعنی ضابطه داده چې په شرط پوري دطلاق معلق کول هغه وخت صحیح ده چې حالف (زوج)دتعلیق پروخت دطلاق مالک وي یعنی دکومې ښځې طلاق چې دی معلق کوي هغه به دده منکوحه وي مثلاً خپلې منکوحې ته ووایې ان زرت فلانا فانت طالق (که تادفلانی کس سره ملاقات وکړنوته طلاقه یې)،یاطلاق دخپل ملک طرف ته منسوب کړي نوهم تعلیق صحیح دی مثلااجنبی ښځې ته ووایې ان نکحتک فانت طالق (که ماله تاسره نکاح وکړه نوته طلاقه یې)نوپه دي دواړوصورتونوکې دشرط په پوره کیدلوسره طلاق واقع کیږي . دچادزیارت کولومعنی ده داکرام اواستیناس لپاره له ده سره دیوځای کیدلوقصد کول.

(۱۰۶)که دتعلیق پروخت زوج دطلاق مالک نه وو اونه یې طلاق دملک طرف ته منسوب کړنوطلاق نه واقع کیږي مثلاًچاکومې اجنبیه ښځې ته وویل ان زرت فانت طالق (که تاله فلان سره ملاقات وکړنوته طلاقه یې)بیاده له دي ښځې سره نکاح وکړه بیاهغې له فلان سره ملاقات وکړنوطلاق نه واقع کیږي ولی چې دتعلیق پروخت نه دی دطلاق مالک دی اونه ده طلاق دملک طرف ته منسوب کړی دی لهذا په دي صورت کې طلاق نه واقع کیږي .

(۱۰۷)وَأَلْفَاظُ الشَّرْطِ إِنْ وَإِذَا وَإِذَامَا وَكُلٌّ وَكُلَّمَا وَمَتَى وَمَتَى مَا فَفِيهَا إِنْ وُجِدَ الشَّرْطُ انْتَهَتِ الْيَمِينُ (۱۰۸) إِلَّا فِي كُلَّمَا لِاقْتِضَائِهِ عُمُومَ الْأَفْعَالِ كَاقْتِضَاءِ كُلٍّ عُمُومَ الْأَسْمَاءِ فَلَوْ قَالَ كُلَّمَا تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً فَهِيَ طَالِقٌ يَحْنَثُ بِكُلِّ امْرَأَةٍ وَلَوْ بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ

ترجمه:اودشرط الفاظ دادي ،ان ،اذا ،اذاما ،کل ،کلما ،متی ،متی ما ،نوپه دوئ کې که شرط موجود شونوقسم پای ته رسیږي ،مګرپه کلماکې ولی چې هغه تقاضاکوي دافعالودعموم لکه څرنګه چې کل دعموم اسماء،نوکه یې وویل کله چې هم زه نکاح وکړم له کومې ښځې سره نوهغه دي طلاقه وي نوحانث کیږي هرځل کله چې دی له کومې ښځې سره نکاح کړي که څه هم له دوهم خاوند څخه وروسته وي .

تشریح :(۱۰۷)الفاظ شرط ان اواذاالخ دي ،په دي کې لفظ کل په حقیقت کې دشرط له الفاظوڅخه نه دی ولی چې دشرط له لفظ څخه وروسته فعل وي خال داچې له کل څخه وروسته اسم وي هولفظ کل ملحق بالفاظ شرط دی لتعلیق الفعل بالاسم الذی یلیهالکه کل امراة اتزوجهافهی طالق (له کومې ښځې سره چې هم زه واده وکړم هغه طلاقه ده)،اوله کلماڅخه ماسوادباقی ټولو الفاظ شرط حکم دادی چې کله شرط موجودشي نوقسم په پوره کیدلوسره ختمیږي ،ولی چې له کلماماسواباقی الفاظ شرط لغة دعموم اوتکرارتقاضانه کوي لهذا یوځل دفعل په موجودیدلوسره شرط پوره کیږي اوبغیرله شرط څخه یمین نه باقی نه پاتې کیږي.

(۱۰۸)پاتې شولفظ دکلمانوڅرنګه چې داپه افعالوکې دعموم تقاضاکوي لکه دکل لفظ چې دعموم اسماء تقاضاکوي اودتعمیم لپاره تکرارلازم دی په دي وجه په کلماکې دشرط له موجودیدلو څخه وروسته هم یمین باقی پاتې کیږي مثلاً چاوویل کلماتزوجت امراة فهی طالق (زه چې کله هم له کومې ښځې سره نکاح وکرم هغه طلاقه ده)نوکله چې هم نکاح وکړي پرهغې طلاق واقع کیږي که څه هم په دوهم خاوندله حلاله کولوڅخه وروسته نکاح وکړي ولی چې ددي یمین صحت په دي اعتبارسره دی چې داکس

دنکاح کولوپه وجه دطلاق مالک ګرځي او نکاح کول غیرمحدوددی لهذا طلاق به هم غیرمحدودوي په دي.
وجه چې تکرارسبب دتکرارمسبب تقاضاکوي.

ف:دکلماله طلاق څخه دځان ساتني داتدبیرکیدای شي چې دده له اجازت څخه بغیرکوم اجنبي کس دده نکاح وکړي بیا چې کله ده ته دنکاح خبرورسیږي نوپه ژبه سره دي اجازه نه ورکوي که نه نو طلاق واقع کیږي دخبرپه اوریدلوسره دي بالکل خاموش پاتې شي تحریري اجازت دي ورکړي یادی تول مهریاڅه حصه دمهرښځې ته وروليږي تحریري اجازت ښځې ته ورليږل ضروري نه دی ،له خپل ځان سره په کوم کاغذباندي ددي نکاح داجازت په لیکلوسره نکاح نافذیږي او طلاق نه واقع کیږي.(احسن الفتاوی ۱۷۶/۵)

(۱۰۹)وَزَوَالُ الْمِلْكِ بَعْدَ الْيَمِينِ لَا يُبْطِلُهَا(۱۱۰)فَإِنْ وُجِدَ الشَّرْطُ فِي الْمِلْكِ طَلُقَتْ وَانْحَلَّتْ(۱۱۱)وَإِلَّا لَا وَانْحَلَّتْ(۱۱۲)وَإِنْ اخْتَلَفَا فِي وُجُودِ الشَّرْطِ فَالْقَوْلُ لَهُ إِلَّا إِذَا بَرْهَنَتْ(۱۱۳)وَمَا لَا يُعْلَمُ إِلَّا مِنْهَا فَالْقَوْلُ لَهَا فِي حَقِّهَا كَإِنْ حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَفُلَانَةُ أَوْ إِنْ كُنْتِ تُحِبِّينِي فَأَنْتِ طَالِقٌ وَفُلَانَةُ فَقَالَتْ حِضْتُ أَوْ أُحِبُّكَ طَلُقَتْ هِيَ فَقَطْ(۱۱۴)وَبِرُؤْيَةِ الدَّمِ لَا يَقَعُ فَإِنْ اسْتَمَرَّ ثَلَاثًا وَقَعَ مِنْ حِينِ رَأَتْ(۱۱۵)وَفِي إِنْ حِضْتِ حَيْضَةً يَقَعُ حِينَ تَطْهُرُ

ترجمه:اودملک زائلیدل نه باطلوي قسم ،نوکه موجودشوشرط په ملک کې نوښځه طلاقیږي اوقسم پوره کیږي،که نه نو نه واقع کیږي اوشرط پوره کیږي ،اوکه زوجینواختلاف وکړپه وجوددشرط کې نوقول دخاوند به معتبروي مګرداچې ښځه دلیل پیښ کړي ،اوکوم امورچې نه معلومیږي مګردښځې له طرفه نوقول به دښځې معتبروي صرف دهمدي ښځې په حق کې لکه چې ووایي که ته حائضه شوي نوته طلاقه یې اوفلانی ښځه طلاقه ده یایې وویل که ته له ماسره محبت لري نوته طلاقه یې او فلانی ښځه طلاقه ده نوښځې وویل زه حائضه شوم یازه له تاسره محبت لرم نوطلاقیږي صرف همدا ښځه،اوصرف په وینه لیدلوسره طلاق نه واقع کیږي اوکه تردریو ورځوپوري وینه جاري پاتې شوه نوطلاق له هغه وخته واقع کیږي کله چې یې وینه لیدلی ده ،اودخاوندپه دي ویلوسره چې که تاته یو حیض درغی نوواقع کیږي طلاق کوم وخت چې داپاکه شي.

تشریح:(۱۰۹)یعنی که له قسم څخه وروسته دخاوندملک په یوه یادوه طلاقه سره زائل شونوقسم نه باطلیږي مثلازوج ښځې ته وویل ان دخلت الدار فانت طالق (که ته کورته داخله شوي نوته طلاقه یې) بیاده ښځه بائنه کړه اوله دخول دارڅخه وراندي بیا ښځې سره دوهم ځل نکاح وکړه نوپه دي زوال ملک سره قسم نه باطلیږي ولی چې دیمین بقاء په شرط اوجزاء سره ده اومفروض دادی چې شرط نه دی موجودشوی لهذاشرط باقي پاتې دی اودبقاء محل په وجه سره جزاء هم باقي ده نوکله چې شرط اوجزاء دواړه باقي دي نویمین هم باقي دی.

ف:لیکن له زوال ملک څخه په یوه یادوه طلاقه سره زوال ملک مرادیدی ولی چې ددریوطلاقوپه وجه دزائل شوي ملک په وجه یمین هم زائلیږي ،مګرداچې یمین دسبب ملک طرف ته منسوب وي نوبیاپه دریوطلاقوسره هم نه باطلیږي.

(۱۱۰)نوکه په مذکوره بالاصورت کې دابنځه بیادحالف په ملک کې راغله اوکورته داخله شوه نوطلاق واقع کیږي ولی چې شرط موجودشواومحل دنزول جزاء قابل دی لهذاپرده جزاء واقع کیږي ، اوقسم پوره کیږي ولی چې له شرط څخه بغیریمین لره بقاء نشته .

(۱۱۱)قوله والالاوانحلت ای وان لم یوجدالشرط فی الملک بل یوجدفی غیرالملک لم یقع الطلاق وانحلت الیمین ، یعنی که شرط په ملک کې موجودنه شوبلکه له زوال ملک څخه وروسته موجودشومثلامذکوره ښځه له بینونت څخه وروسته دوهم ځل دحالف په نکاح کې له راتلوڅخه وړاندي.کورته داخله شوه نوطلاق نه واقع کیږي ولی چې دنزول جزاء لپاره محل نشته ،اوقسم پوره کیږي ولی چې شرط موجودشولهذااوس که دابنځه دوهم ځل ددي خاوندپه نکاح کې راغله اوکورته داخله شوه نوبیردي طلاق نه واقع کیږي .

(۱۱۲)که زوجینودشرط وجودکې اختلاف وکړمثلاخاوندوایي چې شرط نه دی موجودشوی یعنی ته کورته نه یې داخله شوي لهذاطلاق نه دی واقع شوی اوښځه وایي چې شرط موجودشوی دی یعنی زه کورته داخله شوي یم اوطلاق واقع شوی دی نودخاوندقول به معتبروي ولی چې دخاوندقول له اصل سره موافق دی ولی چې اصل عدم دشرط دی اوقول دمتمسک بالاصل معتبروي ،همدارازخاوندله وقوع طلاق څخه منکردی اوقول دمنکرمعتبروي ،البته که ښځې خپله دعوی په ګواهانوثابته کړه نوددي قول معتبردی ولی چې اوس ښځې خپله دعوی په حجت سره ثابته کړه .

(۱۱۳)البته که خاوندطلاق په کوم داسې شرط پوري معلق کړی وي دکوم علم چې صرف ښځې لره حاصلیدای شي نوپه وجودشرط کې دښځې قول صرف ددي دذات په باره کې قبلیږي دبلې حق کې نه قبلیږي مثلاخاوندخپلې یوې ښځې ته وویل ان حضت فانت طالق وفلانة (که تاته حیض درغی نوته اوفلانی طلاقې یاست)اوښځې وویل چې ماته حیض راغی نواستحساناطلاق واقع کیږي ولی چې حیض داسې شرط دی چې دهغه علم صرف ښځې لره کیدای شي ښځه په خپل حق کې امینه ده اودامین قول دده په حق قابل قبول وي ،مګرفلانة (یعنی ددي بن)نه طلاقیږي ولی چې دابنځه دخپلې بنې په حق کې شاهده ده اودیوفردشهادت معتبرنه دی خاص کرچې کله مقام هم دتهمت وي لهذادبن په حق کې ددي قول معتبرنه دی ولی چې دمتهم شهادت مردوددی .همداشان که خاوندښځې ته وویل ان کنت تحبینی فانت طالق وفلانة (که ته له ماسره محبت لري نوته اوفلانی طلاقې یاست)ښځې وویل اناا حبک (زه له تاسره محبت کوم)نوبیردي طلاق واقع کیږي که څه هم ددي په زړه کې دهغه خلاف وي کوم چې دي ښکاره کړی دی ولی کله چې دحقیقت حال علم متعذرشونوسبب ظاهریعنی اخبار(دښځې خبرورکول)دحقیقت حال دلیل وګرځول شومګرفلانة (یعنی ددي بن)نه طلاقیږي لمامر.

(۱۱۴)قوله وبرؤیة الدم لایقع ای اذاقال لهاان حضت فانت طالق فرات الدم لم یقع الطلاق برؤیة الدم حتی یستمر ثلاثة ایام ,یعنی که خاوندښځې ته وویل اذاحضت فانت طالق (کله چې تاته حیض درشي نوته طلاقه یې)بیادي ښځې وینه ولیدله نوپه محض وینه لیدلوسره طلاق نه واقع کیږي ترڅوچې تردریوورځوپوري وینه جاري پاتې شي ولې لکه څرنګه چې دااحتمال شته چې داوینه دي حیض وي همداشان دااحتمال هم شته چې له دریوورځوڅخه په

کم دي منقطع شي اوداوينه دي استحاضه وي نودشک په وجه سره طلاق نه واقع کيږي.البته که ترپوره دريوورځوپوري وينه ورغله نوله کوم وخت څخه چې وينه شروع شوي وه له هغه وخت څخه به دطلاق دواقع کيدلو حکم لګول کيږي ولی چې تردريوورځوپوري دوينې دممتدوالی په وجه معلومه شوه چې داوينه له رحم څخه ده دحيض وينه ده استحاضه نه ده لهذا اول وخت څخه حيض شمارل کيږي .

(۱۱۵)قوله ولی ان حضت حيضة يقع ای ولی صورة قول الزوج لامرأته ان حضت حيضة يقع الطلاق ،يعنی که خاوند ښځې ته وويل ان حضت حيضة فانت طالق (کله چې تاته يوحيض راشي نوته طلاقه يې)نودا ښځه کله چې له خپل دي حيض څخه پاکه نه شي نه طلاقيږي ولی چې حيضة په تاء سره حيض کامل ته ويل کيږي اودحيض کمال دده پرختموالی باندي وي اوختم والی په طهرسره وي لهذا دطهرپه شروع کيدلوسره پردي طلاق واقع کيږي له دي څخه وړاندي نه واقع کيږي .

(۱۱۶)ولي إن وَلَدتِ وَلَدًا ذَكَرًا فَأَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَإِنْ وَلَدتِ أُنثَى فَثِنْتَيْنِ فَوَلَدَتْهُمَا وَلَمْ يُدْرَ الأَوَّلُ تَطْلُقُ وَاحِدَةً قَضَاءً وَثِنْتَيْنِ تَنَزُّهًا وَمَضَتْ الْعِدَّةُ(۱۱۷)وَالْمِلْكُ يُشْتَرَطُ لِآخِرِ الشَّرْطَيْنِ(۱۱۸)وَيَبْطُلُ تَنْجِيزُ الثَّلَاثِ تَعْلِيقَهُ

ترجمه :اودخاوندپه دي ويلو کې چې که ستاهلک پيدا شونوته په يوه طلاق طلاقه يې اوکه انجلۍ پيداشوه نوپه دووطلاقه يې نودښځې دواړه پيداشول اواول معلوم نه شونويوطلاق واقع کيږي قضاء اودوه طلاقه واقع کيږي احتياطا اوددي عدت هم تيريږي،اوملک شرط دی په دووشرطونوکې داخيري لپاره ،اوباطلوي دري طلاقه فی الحال واقع کول ددوئ تعليق لره .

تشريح :(۱۱۶)قوله ولی ان ولدت ذکرا الخ ای ولی صورة قول الزوج لامرأته ان ولدت ذکرا الخ ،يعنی که خاوندخپلې ښځې ته وويل که تاهلک پيدا کړنوته په يوه طلاق طلاقه يې اوکې دي نجلۍ پيدا کړه نوپه دوه طلاقه طلاقه يې اوس داسې وشول چې ښځې هلک اوانجلۍ دواړه وزيږول نوکه دامعلومه شوه چې دهلک زيږدل وړاندي وو نودشرط مطابق پرښځه يوطلاق واقع کيږي ،اودنجلۍ په زيږيدلو سره عدت هم پوره شوه ولی چې دحامله ښځې عدت وضع حمل وي، اوکه دنجلۍ زيږيدل وړاندي وو نودشرط مطابق پرښځه دوه طلاقه واقع کيږي .اوکه دا معلومه نه شوه چې په هلک اونجلۍ دواړوکې کوم يواول وزيږيدی نوقضاء دابښځه په يوطلاق طلاقيږي ولی چې په يوه اودووکې شک دی نويويقيني دی ځکه يوواقع کيږي اوددوهم په وقوع کې دشک په وجه دوهم نه واقع کيږي مګراحتياطادوه طلاقه شمارل کيږي ولی کيدای شي چې نجلۍ دي اول زيږيدلې وي په دواړوصورتونوکې ددي ښځې عدت پای ته رسيږي ولی چې کوم يوهم اول وزيږيدی ښځه مطلقه شوه اوددوهم په زيږيدلو دښځې عدت تيرشوولی چې دحامله عدت وضع حمل ده .

(۱۱۷)يعنی ملک نکاح په دووشرطونوکې داخيري لپاره شرط دی مثلاچاخپلې ښځې ته وويل که تاله زيداوبکرسره خبري وکړي نوته په دري طلاقه طلاقه يې ،بياخاونددي ته يوطلاق ورکړاودي له عدت پوره کولوڅخه وروسته له زيدسره خبري وکړي بياسابقه خاوندله دي ښځې سره دوهم ځل نکاح وکړه اوس دي له بکرسره خبري وکړي نوپه دي وخت کې هغه معلق دري واړه طلاقونه واقع کيږي حال داچې دامام زفر رحمه الله په نزدمعلق دري واړه طلاقونه نه واقع کيږي ترڅوچې شرط اول هم دملک نکاح پروخت موجودنه شي ولی چې دواړه شرطونه دشئ واحدپه شان دي اوملک دوجودثانی په وخت کې شرط دی نودوجوداول

پروخت به هم شرط وي .زموږ دليل دادی چې ملک دتعليق پروخت شرط دی ترڅو جزا پرمرتبه شي اودشرط اول دوجودحالت دبقاء حالت دی لهذاپه دې کې ملک شرط نه دی ،ددې مسئلې څلورصورتونه دي(١)دواړه شرطونه په ملک کې موجودشي نوبالاتفاق طلاق واقع کيږي (٢)دواړه په غيرملک کې موجودشي نو بالاتفاق طلاق نه واقع کيږي (٣)اول شرط په ملک کې موجودشي ثانی په غيرملک کې نوداابن ليلی ماسوادهيچاپه نزدطلاق نه واقع کيږي(۴)اول شرط په غيرملک کې موجودشي اوثاني په ملک کې موجودشي داصورت مختلف فيه دی کمامر.

(١١٨)يعنی که چادخپلې ښځې درې واړه طلاقه په کوم شرط پورې معلق کړي ومثلاوويل که دفلان کورته داخله شوې نوته په درې طلاقه طلاقه يې ،بيايې هغه تنجيزاواقع کړل يعنی فی الحال بلاتعليق يې واقع کړل نوداولنيودريو طلاقونو تعليق باطليږي لهذاکه دې ښځې له بل خاوندسره نکاح وکړه بيايې له هغه څخه طلاق واخيست واپس اول زوج ته راغله اوس دفلان کورته داخله شوه نوپردې طلاق نه واقع کيږي ولی چې ددريو طلاقونودوقوع شرط دخول داروو اوجزاء دهغه ملک درې طلاقه وو اوس چې کله هغه ملک باقی پاتې نه دی نوجزاء هم پاتې نه ده ،البته يوصورت له دې څخه مستثنی دی هغه داچې خاوندمعلق طلاق دخپل ملک طرف ته مضاف کړی وي اوتعليق دکلماپه لفظ سره وي نوپه دې صورت کې تعليق نه باطليږي لکه څرنگه چې وړاندې ددې تفصيل تيرشو.

(١١٩)وَلَوْ عَلَّقَ الثَّلَاثَ اَوِ الْعِتْقَ بِالْوَطْءِ لَمْ يَجِبِ الْعُقْرُ بِاللُّبْثِ (١٢٠)ولم يَصِرْ بِهِ مُرَاجِعًا فِي الرَّجْعِيِّ اِلَّا اِذَا اَوْلَجَ ثَانِيًا (١٢١)وَلَا تَطْلُقُ فِي اِنْ نَكَحْتُهَا عَلَيْكِ فَهِيَ طَالِقٌ فَنَكَحَ عليها فِي عِدَّةِ الْبَائِنِ (١٢٢)وَلَا فِي أَنْتِ طَالِقٌ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ مُتَّصِلًا وَاِنْ مَاتَتْ قبل قوله اِنْ شَاءَ اللّٰهُ (١٢٣)وفي أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا اِلَّا وَاحِدَةً يَقَعُ ثِنْتَانِ وفي اِلَّا اثْنَتَيْنِ يَقَعُ وَاحِدَةٌ وفي اَلَّا ثَلَاثًا ثَلَاثٌ

ترجمه :اوکه يې معلق کړل درې طلاقه يا ازادي په وطی پورې نونه واجبيږي مهردځنډ کولوپه وجه سره ،اومراجعت کونکی نه دی ددې په وجه په رجعی کې مگرداچې داخل يې کړي دوهم ځل ،اوطلاق نه واقع کيږي دخاوندپه دې ويلوکې چې که له فلانکۍ سره پرتانکاح وکړم نوهغه طلاقه ده ،بيايې پردې نکاح وکړه دطلاق بائن په عدت کې ،اونه دانت طالق سره متصل ان شاء الله ويلوپه صورت کې که څه هم ښځه وفات شي دخاوندله ان شاء الله ويلو څخه وړاندې ،اوته طلاقه يې په درې طلاقه مگريوه دويلوپه صورت کې دوه واقع کيږي ،اودمگردووويلوپه صورت کې يوواقع کيږي اودمگردريوويلوپه صورت کې درې واقع کيږي.

تشريح :(١١٩)که چادخپلې ښځې درې طلاقه يادخپلې مينځې ازادي په صحبت کولوپورې معلقه کړه مثلاوي ويل که زه له تاسره صحبت وکړم نوته په درې طلاقه طلاقه يې ،يايې خپلې مينځې ته وويل که زه له تاسره صحبت نوته ازاده يې، بيايې له دې سره صحبت وکړنو څرنگه چې خاوندښځې په شرمگاه کې خپل شرمگاه داخل کړي نوپرښځه درې طلاقه واقع کيږي اوپه دوهم صورت کې مينځه ازاديږي ولی چې شرط موجودشو بياکه داکس په همدې حالت باندې زاندڅه وخت لپاره ځنډ وکړ(ای لم يخرجه بعدالتقاء الختانين)نوسره له دې چې داځنډ کول حرام دی ليکن پردې کس ددې ځنډ کولوپه وجه مهرنه لازميږي ولی چې مهردجماع په

وجه لازمیږي او جماع دلته نه ده متحققه شوي ځکه چې له وقوع طلاق او دمینځې له ازادي وروسته ادخال الفرج فی الفرج نه ده موجود شوی او جماع ادخال الفرج فی الفرج ته ویل کیږي.

(۱۲۰) او که چا د خپلې ښځې طلاق رجعی په جماع پوري معلق کړ مثلاوي ویل که ماله تاسره صحبت وکړنو ته په رجعی طلاق طلاقه یې ،بیاده له ښځې سره صحبت وکړنو یو رجعی طلاق واقع کیږي بیا که داکس په همدي حالت باندي زائد د څه وخت لپاره پاتې شو (ای لم یخرجه بعدالتقاء الختانین) نو په دغه سره رجعت نه ثابتیږي ولی چې رجعت په جماع ثابتیږي او په دي حالت پاتې کیدل جماع نه ده بلکه دوام جماع ده ،هو که دي کس خپله شرمگاه خارجه کړه او بیایې داخله کړه نو په دي صورت کې رجعت ثابتیږي ولی چې اوس جماع موجوده شوه.

(۱۲۱) که خاوند ښځې ته وویل که ماپر تا باندي له فلانکۍ ښځې سره نکاح وکړه نو هغه طلاقه ده ،بیا خاوند خپلې منکوحه ښځې ته طلاق بائن ورکړ او دهغې په عدت کې له دي فلانکۍ ښځې سره نکاح وکړه نو په دي دوهمې ښځې طلاق نه واقع کیږي ولی چې اولنۍ ښځه د طلاق بائن په عدت کې د دي کس منکوحه نه ده لهذا اله دوهمې ښځې سره نکاح پر منکوحه له فلانکۍ سره نکاح نه شمارل کیږي نو د شرط د نه پور کیدلو په وجه طلاق نه واقع کیږي.

(۱۲۲) قوله ولا فی انت طالق ان شاء الله ای ولاتطلق ایضا فی قول الزوج لامرأته انت طالق ان شاء الله ،یعنی که خاوند خپلې ښځې ته وویل انت طالق ان شاء الله تعالی (ته طلاقه یې ان شاء الله) او دان شاء الله لفظ یې له انت طالق سره متصل ووایه نو طلاق نه واقع کیږي ولی چې په داسې شرط پوري تعلیق د کوم چې وجود معلوم نه وي ابتداء کلام لره مغیروي په همدي وجه دان شاء الله دمتصل ویلو شرط ولگوی، او که دخاوند دان شاء الله ویلو څخه وړاندي ښځه وفات شوه نو هم طلاق نه واقع کیږي ولی چې داستثناء په وجه کلام له ایجاب څخه خارج شو نو کله چې ایجاب باطل شو نو حکم هم باطل شو.

(۱۲۳) قوله وفی انت طالق الا واحدة ای وفی قول الزوج لامرأته انت طالق ثلاثا الا واحدة الخ ،یعنی که چا خپلې ښځې ته وویل انت طالق ثلاثا الا واحدة (ته په دري طلاقه طلاقه یې مگر په یوه) نو دوه طلاقه واقع کیږي ، او که یې وویل انت طالق ثلاثا الا اثنتین (ته په دري طلاقه طلاقه یې مگر دوه) نو یو طلاق واقع کیږي. حاصل دا چې استثناء تکلم بالباقی بعد الاستثناء ته ویل کیږي نو داستثناء دصحت شرط دادی چې له استثناء څخه وروسته په مستثنی کې څه پاتې شي ترڅو متکلم په باقی مانده باندي متکلم پاتې شي حتی که خاوند وویل انت طالق ثلاثا الا ثلاثا (ته په دري طلاقه طلاقه یې مگر دري) نو دري واړه واقع کیږي ولی چې بعد الاستثناء هیڅ شئ پاتې نه شو چې په هغه متکلم ته تکلم کونکی وویل شي لهذا داستثناء صحیح نه ده ولی چې دا داسې شو لکه چې څوک له اقرار څخه وروسته انکار وکړي دکوم چې هیڅ اعتبار نشته.

بَابُ طَلَاقِ الْمَرِيضِ

له دي ځخه وړاندې مصنف رحمه الله دروغ کس طلاق له خپلو ټولو اقسامو سره بیان کړاوس په دې باب کې دمریض دطلاق احکام بیانوي ځرنګه چې روغتیا اصل ده او مرض عارض ده او اصل له عارض ځخه مقدم وي په دي وجه يې په ذکرکې هم دروغ کس دطلاق احکام مقدم او دمریض دطلاق احکام مؤخر کړل.خاص له تعلیق الطلاق سره ددې باب مناسبت دادی چې دتعلیق په صورت کې طلاق من وجه واقع دی(که شرط موجود شو)اومن وجه واقع نه دی(که شرط موجود نه شو)همداشان دمرض الوفات طلاق من وجه واقع دی (یعنی له وراثت ځخه علاوه دنوړواحکامو په اعتبارسره)اومن وجه نه دی واقع (یعنی دوراثت په اعتبارسره).

(۱۲۴)طَلَّقَهَا رَجْعِيًّا أَوْ بَائِنًا فِي مَرَضِهِ وَمَاتَ فِي عِدَّتِهَا وَرِثَتْ(۱۲۵)وَبَعْدَهَا لَا(۱۲۶)وَلَوْ أَبَانَهَا بِأَمْرِهَا أَوِ اخْتَلَعَتْ مِنْهُ أَوِ اخْتَارَتْ نَفْسَهَا بِتَفْوِيضِهِ لَمْ تَرِثْ(۱۲۷)وَلَوْ طَلَّقَنِي رَجْعِيَّةً فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا وَرِثَتْ(۱۲۸)وَإِنْ أَبَانَهَا بِأَمْرِهَا فِي مَرَضِهِ أَوْ تَصَادَقَا عَلَيْهَا فِي الصِّحَّةِ وَمُضِيِّ الْعِدَّةِ فَأَقَرَّ أَوْ أَوْصَى لَهَا فَلَهَا الْأَقَلُّ مِنْهُ وَمِنْ إِرْثِهَا

ترجمه:خاوند خپلې ښځې ته رجعي یا بائن طلاق ورکړ په خپل مرض کې او وفات شو دهغې په عدت کې نو وارثه ده ،او له دي ځخه وراثه نه ده ،او که یې جلاکړه ددي په وینا سره یا ښځې له ده سره خلع وکړه یا ښځې اختیارکړ خپل نفس دخاوند له طرف ځخه دتفویض طلاق په صورت کې نو وارثه نه ده ،او دښځې په دي قول کې چې ماته رجعی طلاق راکړه نو ده دي لره دری طلاقه ورکړل نو وارثه به وي ،او که یې داجلاکړه ددي به وینا سره دخاوند په مرض کې ،یا دواړو دیو بل تصدیق وکړ په جلاوالی سره په روغتیا کې او دعدت پرتیریدلو بیا خاوند اقرار وکړ یا یې وصیت وکړ ښځې لره نو ښځې لره اقل دی له اقرار او وصیت او ترکې ځخه.

تشریح :(۱۲۴)که خاوند په خپل مرض موت کې خپلې ښځې ته طلاق رجعی ورکړ یا یې بائن طلاق ورکړاو دده ښځه پردي راضي نه وه بیا خاوند وفات شو او دده ښځه تراوسه په عده کې وه او ښځه دوراثت مستحقه هم وه نو دا به دخپل خاوند وارثه وي ولی چې دخاوند په مرض وفات کې دښځې حق دده له مال سره متعلق کیږي نو په دي حالت کې په طلاق ورکولو سره خاونددي دوراثت دحق دباطلولو اراده کړې ده لهذا دده داغلطه اراده به پرده بیرته واپس کیږي په دي دول چې دطلاق عمل به دعدت دتیریدلو ترزمانې پورې مؤخرکیږي ترځو له ښځې ځخه دحرمان وراثت ضررختم شي .په دي دول په مرضَ الموت کې طلاق ورکولو ته طلاق فاروپل کیږي .

ف:دمرض الموت دتعریف په سلسله کې مختلف اقوال منقول دي او په هغو کې ډیرفرق او تفاوت موجود دی علامه حصکفی رحمه الله لیکلي دي چې دنا روغې یا په کومه بله وجه دده هلاکت یقیني وي او دی له کور ځخه په راوتلو دخپلو ضروریاتو له پوره کولو ځخه قاصروي ،فقیه ابو اللیث رحمه الله ځخه منقول دي چې دده دمرض موت دتحقق لپاره فریش والی ضروري نه ګانه ،دایې کافی ګڼله چې په عام دول دانا روغی هلاکت ته منتجه وي ،علامه شامی رحمه الله ددي تائید کړی دی اولیکلي یې دي چې دصدر شهید فتوی هم پر همدي قول وه ،او همدا دامام محمد رحمه الله له کلام سره هم اهنګ ده .(قاموس الفقه :۵/۷۹)

(۱۲۵)قوله وبعدهالاای اذامات الرجل بعدالعدة لاترث مطلقا،يعنی كه خاوندد ښځې دعدت له تيريدلو څخه وروسته وفات شونو بياښځې لره ميراث نشته ولی چې له عدت څخه وروسته نكاح من كل الوجوه ختمه شوه .دمصنف ﷫ قول ،فی مرضه ،صرف دطلاق بائن لپاره قيددی ولی چې دطلاق رجعی په صورت كې كه مطلقه په عدت كې وي مطلقاوارثه ده خواه كه په مرض كې طلاق وركړي ياپه صحت كې ولی چې زوجيت قائم دی .

الالغاز :قال لامراته ان خرجت من هذاالماءوهی فی نهر جارفانت طالق فماالحيلة؟

قل :تخرج ولايحنث لان الماءالذی كانت فيه زال بالجريان (الاشباه والنظائر)

(۱۲۶)اوكه خاونددښځې په ويلوسره دي لره بائن طلاق وركړيابنځې له ده سره خلع وكړه ياخاونددي لره دطلاق اختياروركړی وو اودځپل ځان اختياركړمثلاوي ويل اختاری نفسک ،ښځې وويل اخترت نفسی ،نوپه دي دري واړه صورتونو كې هغه وارثه نه ده ولی چې ښځه دطلاق دمطالبې كولوپه وجه دځپل حق په ابطال په ځپله راضې شوې ده .

(۱۲۷)قوله ولی طلقنی رجعية ای فی قول المراة لزوجهاطلقنی رجعية الخ ،يعنی كه ښځې ځپل خاوندته وويل چې ماته يورجعی طلاق راكړه ،خاونددي ته يوځای دري طلاقه وركړل بياخاوندپه عدت كې وفات شونوښځه به له ميراث څخه محرومه نه وي اوس به هم ميراث وركول كيږي ولی چې په دي صورت كې دي دځپل حق په ابطال رضانه ده ظاهره كړي ولی چې دي خورجعی طلاق طلب كړی وو په كوم چې نكاح نه ختميږي اونه ښځه له ميراث څخه محروميږي .

(۱۲۸)اوكه خاونددښځې په غوښتنه سره په ځپلې ناروغې كې دي ته بائن طلاق وركړاوس خاونددي ښځې ته دقرض اقراروكړيادي ته دڅه پيسودوركولووصيت وكړبياخاوندوفات شونودي ښځې ته به هغه وركول كيږي كوم چې په قرض اوميراث ياوصيت اوميراث كې لږوي ولی چې دتهمت امكان دی چې داقرارووصيت په شكل كې ښځې ته دزياتې حصې دوركولوپه قصدسره خاوندطلاق وركړی دی ،همداشان كه دصحت په حالت كې دي لره دبائن طلاق وركولو اودعدت په تيريدلوله دواړوڅخه يوه دهغه بل تصديق وكړمثلاخاوندوويل چې ماتاته دصحت په حالت كې طلاق دركړی وو اوستاعدت هم تيرشوی دی ښځې دده تصديق وكړاوس خاوندپه ځپله ذمه ښځې لره دقرض اقراروكړ ياېې دي لره دڅه پيسودوركولووصيت وكړبياخاوندوفات شونودي ښځې ته به هغه وركول كيږي كوم چې په قرض اوميراث ياوصيت اوميراث كې لږوي ولی چې ديوبل په تصديق كولوكې دواړه متهم دي چې په دي دول زياته حصه وركول مقصوددی اودمتهم قول مردوددی لهذااقل به واجب وي .

(۱۲۹)وَمَنْ بَارَزَ رَجُلًا اَوْ قُدِّمَ لِيُقْتَلَ بِقَوَدٍ اَوْ رَجْمٍ فَأَبَانَهَا وَرِثَتْ اِنْ مَاتَ فِي ذٰلِكَ الْوَجْهِ اَوْ قُتِلَ (۱۳۰) وَلَوْ مَحْصُوْرًا اَوْ فِي صَفِّ الْقِتَالِ لَا (۱۳۱) وَلَوْ عَلَّقَ طَلَاقَهَا بِفِعْلِ اَجْنَبِيٍّ اَوْ بِمَجِيْءِ الْوَقْتِ وَالتَّعْلِيْقُ وَالشَّرْطُ فِي مَرَضِهِ (۱۳۲) اَوْ بِفِعْلِ نَفْسِهِ وَهُمَا فِيْ مَرَضِهِ اَوِ الشَّرْطُ فَقَطْ (۱۳۳) اَوْ بِفِعْلِهَا وَلَا بُدَّ لَهَا مِنْهُ وَهُمَا فِي الْمَرَضِ اَوِ الشَّرْطُ وَرِثَتْ وَفِيْ غَيْرِهَا لَا

ترجمه :اوڅوک چې دچامقابلې ته راووتی ياپه قصاص كې دقتل لپاره پيښ كړای شوياد رجم لپاره نوده ښځه بائنه كړه نووارثه به وي كه په همدي صورت كې وفات شوياووژل شو ،اوكه محصوروو يادجنگ په

صف کې وونو وارثه به نه وي، او که يې د ښځې طلاق د کوم اجنبی په فعل یا د کوم وخت په راتلو پوري معلق کړا و تعلیق او شرط دواړه دده په مرض کې وو، یا يې په خپل فعل پوري معلق کړا و دواړه یا صرف شرط دده په مرض کې وو، یا يې د ښځې په داسې فعل پوري معلق کړله کوم څخه چې هغې ته چاره نه وه او تعلیق او شرط دواړه یا صرف شرط په مرض کې وو نو وارثه به وي، او په نورو صورتونو کې وارثه نه ده.

تشریح: (۱۲۹) که څوک په جنګ کې له خپل ځان څخه دډیرقوی کس دمقابلې لپاره میدان ته راغی (دمخکنی زمانې خبره ده کوم وخت چې خلکو په تورو او نیزو سره جنګونه کول ددې دوردجنګ دانقشه نه ده)، یا کوم کس په قصاص کې وژل کیدلو یا دسنګسار يدلو لپاره راوغوښتل شوا وده په همدې وخت کې خپلې ښځې ته بائن طلاق ورکړنو که داخاوند په میدان جنګ کې ووژل شو یا په دوهم صورت کې قصاص یا سنګسار کړای شونو دا ښځه به دده وارثه وي ولې چې دخاوند په داسې حالت کې طلاق ورکول داسې دی لکه چې کوم خاوند په مرض الموت کې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي.

(۱۳۰) قوله ولو محصورا او فی صف القتال لا ای لو کان الزوج محصورا او فی صف القتال لاترث، یعنی که خاوند چیرته بندي وو یا د جنګ په میدان کې دجنګ په صف کې ولاړ وو او په دې حالت کې ده خپلې ښځې ته بائن طلاق ورکړنو په دې دووصورتونو کې به دا ښځه دخاوند وارثه نه وي ولې چې په دې صورتونو کې دخاوند مرګ یقیني نه دی غالبه دده سلامتیا ده لهذا دا داسې نه ده لکه چې کوم خاوند په مرض الموت کې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي.

(۱۳۱) که خاوند دخپلې ښځې طلاق دکوم اجنبی کس په کوم کار پوري معلق کړ مثلا وي ویل انت طالق ان جاء زید من السفر (ته طلاقه یې که زید له سفر څخه راغی)، یا يې دکوم وخت په راتلو پوري معلق کړ مثلا وي ویل انت طالق اذا جاء شهر المحرم (ته طلاقه یې کله چې دمحرم میاشت راشي) او حال دا چې دا دواړه خبرې (یعنی دخاوند تعلیق طلاق او شرط یعنی دفلان کس یا دمحرم دمیاشتې راتګ) دده په مرض الموت کې وي نو که خاوند وفات شونو دا ښځه به وارثه وي ولې چې په دې صورتونو کې دخاوند طلاق ورکول طلاق الفار دی او دطلاق الفار په صورت کې ښځه وارثه وي.

(۱۳۲) قوله او بفعل نفسه وهما فی مرضه الخ ای لو علق طلاقها بفعل نفسه وهما فی مرضه الخ، یعنی که خاوند په خپل کوم کار پوري طلاق معلق کړ مثلا وي ویل ان اکلت الطعام فانت بائن (که ما ډوډی وخوړله نو ته بائنه یې) او حال دا چې دخاوند دا تعلیق او وجود شرط دواړه دده په مرض الموت کې وي یا صرف وجود شرط په مرض الموت کې وي تعلیق دده دصحت په زمانه کې وي نو که دا کس وفات شونو دا ښځه به وارثه وي لما مر.

(۱۳۳) قوله او بفعلها و لا بد لها منه الخ ای لو علق طلاقها بفعلها و لا بد لها منه الخ، یعنی که خاوند طلاق د ښځې په داسې فعل پوري معلق کړ چې له هغه څخه ښځې لره چاره نه وه مثلا وي ویل ان اکلت او شربت فانت بائن (که تا خوراک څښک وکړنو ته په بائن طلاقه طلاقه یې) خواه که شرط او تعلیق دواړه په مرض الموت کې وي یا صرف شرط په مرض الموت کې وي نو په دې صورت کې به هم دا ښځه وارثه وي لما مر.

(۱۳۴)اوله لوړذکرشویوصورتونه څخه ماسواپه نورصورتونوکي ښځه وارثه نه ده مثلاپه ټولو مذکوره صورتونوکې شرط اوتعليق دواړه دصحت په حالت کې وي یاصرف تعليق دصحت په حالت کې وي په هغه صورت په کوم کې چې دکوم اجنبی کس په فعل پوري طلاق معلق کړی وویايي دکوم وخت په راتلوپوري طلاق معلق کړی وو یاڅرنګه چې هم وي په هغه صورت کې دښځې له داسې فعل سره طلاق معلق کړي له کوم څخه چې ښځې لره چاره وي.

(۱۳۵)وَلَوْ أَبَانَهَا فِي مَرَضِهِ فَصَحَّ فَمَاتَ (۱۳۶)اَوْ أَبَانَهَا فَارْتَدَّتْ فَأَسْلَمَتْ فَمَاتَ لَمْ تَرِثْ (۱۳۷)وَإِنْ طَاوَعَتْ ابْنَ الزَّوْجِ (۳۸)اَوْ لَاعَنَ (۱۳۹)اَوْ آلَى مَرِيضًا وَرِثَتْ (۴۰)وَإِنْ آلَى فِي صِحَّتِهِ وَبَانَتْ بِهِ فِي مَرَضِهِ لَا

ترجمه:اوکه خاوند ښځه بائنه کړه په خپل مرض کې بیادی روغ شو بیاوفات شو ،یایې ښځه بائنه کړه بیاهغه مرتده شوه بیامسلمانه شوه بیاخاوند وفات شونو وارثه نه ده ،اوکه ښځې مطاوعت وکړ (دجماع په سلسله کې)دخاوند دزوی ،یایې لعان وکړ ،یایې ايلاء وکړه دمرض په حالت کې نو وارثه ده ،اوکه يې ايلاء وکړه دصحت په حالت کې اوهغه بائنه شوه په ايلاء سره دخاوند په مرض کې نو نه ده.

تشریح :(۱۳۵)که خاوندپه مرض کې ښځې ته طلاق بائن ورکړبیاهغه روغ شوبیادوهم ځل مریض شواووفات شونوښځه به.وارثه نه وي ولی چې په دامنځ کې په روغیدلوسره معلومه شوه چې په کومه ناروغی کې يې طلاق ورکړی وو هغه مرض الموت نه وونو داطلاق الفارنه شمارل کیږي اوکله چې داطلاق الفارنه دی نودطلاق په وجه سره ښځه اجنبیه شوه لهذا وارثه به هم نه وي.

(۱۳۶)اوکه خاوندپه مرض کې طلاق بائن ورکړبیاښځه (العیاذبالله)مرتده شوه بیایرته مسلمانه شوه اوس خاوند دمطلقه دعدت په دوران کې وفات شونو داښځه به وارثه نه وي ولی چې نکاح خوبې شکه دارث سبب دی مګرپه مرتد کیدلوسره ښځې دارث اهليت باطل کړځکه چې مرتد دهیچا وارث نه وي اوله اهليت ميراث څخه بغیرميراث باقی نه پاتې کیږي .پاتې شوبیرته داسلام قبلولووخت نوڅرنګه چې سبب ارث یعنی نکاح نشته ځکه به وارثه هم نه وي.

(۱۳۷)اوکه خاوندپه مرض کې ښځې ته طلاق بائن ورکړبیاپه عدت کې ښځې دخاوندزوی ته پرخپل ځان قدرت ورکړاوس خاوند وفات شونو داښځه به وارثه وي ولی چې دلته فرقت دطلاق بائن په وجه راغلی دی نه دښځې دخاوند زوی ته پرخپل ځان دقدرت ورکولوپه وجه سره ،اودخاوندزوی ته پرخپل ځان دقدرت ورکولوپه وجه دارث اهليت نه ختميږي ولی چې محرميت له ارث سره منافی نه ده.

ف:البته که ښځې دقیام نکاح په حالت کې دجماع په سلسله کې دخاوندزوی مطاوعت وکړنو وارثه به نه وي ولی چې په دي صورت کې فرقت دمطاوعت په وجه راغلی اومطاوعت په خپله دزوجې له طرفه دی نوداسې به ګڼل کیږي چې دادسبب ارث یعنی دزوجیت پربطلان راضی ده په دي وجه به داوارثه نه وي.

(۱۳۸)اوکه خاوند دصحت په حالت کې پرښځه دزناکولوالزام ولګاوو بیایې په مرض الموت کې لعان وکړاواوس دښځې دعدت په دوران کې خاوند انتقال شونو داښځه به وارثه وي ولی چې دلعان په وجه سره تفریق هم خاوندله طرفه تفریق ګڼل کیږي ولی چې خاوندپه ښځه په الزام لګولوسره ښځه لعان ته

مجبور کړي ده ځکه چې ښځه خود زنا د الزام په وجه لعان کولو ته مجبوره ده تر څو له خپل ځان څخه د زنا تهمت او عار دفع کړي نو خاوند فار گڼل کیږي او د فار ښځه وارثه وي .

(۱۳۹) که خاوند د مرض په حالت کې له خپلې ښځې سره ایلاء وکړه یعنی دا قسم یې وخوړی چې والله لا اقربک اربعة اشهر (والله زه به تر څلورو میاشتو پورې ستا سره صحبت ونه کړم) بیا د څلور میاشتو په پوره کیدلو سره ښځه بائنه شوه او د عدت په دوران کې وه چې خاوند یې وفات شو نو ښځه به وارثه وي ولې چې د مرض په حالت کې په ایلاء کولو سره خاوند فار شمارل کیږي او دداسې خاوند ښځه دده وارثه وي .

(۱۴۰) او که مریض خاوند د صحت په حالت کې ایلاء وکړه بیا د دي مدت دده په مرض کې ختم شو او ښځه د ایلاء په وجه بائنه شوه او د عدت په دوران کې خاوند وفات شو نو دا ښځه به وارثه نه وي ولې چې ایلاء په منزله د هغه طلاق کې ده کوم چې په څه زمانه تیریدلو پورې معلق وي نو گویا خاوند ویل چې کله څلور میاشتې تیرې شي نو ته په بائن طلاق طلاقه یې او د صحت په حالت کې د طلاق د معلق کولو په صورت کې که خاوند وفات کیږي نو ښځه وارثه نه وي .

بَابُ الرَّجْعَةِ

دا باب د رجعت په بیان کې دی

رجعت د راء په فتحه او کسره دی مگر په فتحه سره ویل یې افصح دی درجع یرجع له باب ضرب څخه دی معنی یې ده راگرځیدل ویل کیږي الی الله مرجعک د الله تعالی طرف ته ستا راگرځیدل دي . او د شریعت په اصطلاح کې د ملک نکاح (کوم چې د عدت په دوران کې قائم دی) برقرار ساتلو ته رجعت ویل کیږي .

د رجعت ثبوت په کتاب الله، سنت رسول الله او اجماع درې واړو سره دی، د الله تعالی ارشاد دی ﴿وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ﴾ په حدیث شریف کې راغلي دي چې نبی کریم ﷺ حضرت عمر ؓ ته وفرمایل چې مر ابنک فلیراجعها، او پر صحت رجعت د امت اجماع هم ده .

ددي باب له ماقبل سره مناسبت دا دی چې رجعت څرنگه چې له طلاق څخه طبعا مؤخر دی په دې وجه یې وضعا او ذکرا هم مؤخر کړ تر څو وضع له طبع سره مطابقه شي، او رجعت له طلاق څخه طبعا ځکه مؤخر دی چې رجعت د سبب حرمت یعنی طلاق د رفع کولو لپاره مشروع شوی دی او رفع همیشه له وقوع څخه وروسته وي .

(۱۴۱) هِيَ اسْتِدَامَةُ الْقَائِمِ فِي الْعِدَّةِ وَتَصِحُّ إِنْ لَمْ يُطَلِّقْ ثَلَاثًا وَلَوْ لَمْ تَرْضَ (۱۴۲) بِرَاجَعْتُكِ أَوْ رَاجَعْتُ امْرَأَتِي وَبِمَا يُوجِبُ حُرْمَةَ الْمُصَاهَرَةِ (۱۴۳) وَالْإِشْهَادُ مَنْدُوبٌ إِلَيْهَا

ترجمه: رجعت هغه ملک لره برقرار ساتل دي کوم ملک چې قائم دی د عدت په زمانه کې او صحیح دی په عدت کې که یې دري طلاقه نه وو ورکړي که څه هم ښځه راضی نه وي . (په دي الفاظو سره) ما تا ته رجوع وکړه ما خپلې ښځې ته رجوع وکړه او په هغو افعالو سره کوم چې واجبوي حرمت مصاهرت، او گواه جوړول مستحب دي پر رجعت باندي .

تشريح :(۱۴۱)مصنف رحمه الله درجعت شرعی تعريف بيان کړی دی چې ملک نکاح لره دښځې په عدت کې بدستورقائم ساتلونوم رجعت دی ،مثلاخاوندخپلې ښځې ته يويادوه رجعي طلاقه ورکړل چې له هغه څخه ښځه عدت تيروي دعدت په دوران کې خاونددي لره بيرته په خپل ملک کې ساتل وغوښتل ، نوڅرنګه چې دطلاق رجعي په وجه ملک نکاح نه زائليږي ولی چې ارشادباری تعالی دی﴿وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ﴾باری تعالی له طلاق رجعي څخه وروسته مطلَق ته بعل ويلی دی، بعل زوج ته ويل کيږي له طلاق څخه وروسته مطلَق ته دزوج له ويلوڅخه معلوميږي چې ملک نکاح قائم دی لهذادهمدي ملک دقائم ساتلونوم په شريعت کې رجعت د ی .هودرجعت لپاره شرط دادی چې خاوندبه دي ته دري طلاقه نه وي ورکړي ولی چې له دري طلاقه ورکولوڅخه وروسته خوښځه پرده په حرمت غليظه سره حراميږي لهذااداسې ښځې ته رجوع کول متصورنه دی .اودرجوع کولوپروخت دښځې رضاهم شرط نه ده ولی چې تراوسه نکاح قائمه ده .

(۱۴۲)دمصنف رحمه الله قول براجعتک جارمجرورمتعلق دی په وتصح پوري ،ای وتصح بقول الزوج راجعتک وراجعت امرأتي الخ ،رجعت په قول اوفعل دواړوسره کيدای شي ،رجعت قولي لکه خاوندچې ووايي راجعتک (ماتاته رجوع وکړه)که ښځه حاضره وي ،اوراجعت امراتی(ماخپلې ښځې ته رجوع وکړه)که ښځه غائبه وي ،داالفاظ څرنګه چې په رجعت کې صريح دي ځکه دنيت محتاج نه دي،اورجعت فعلي هرهغه فعل دی چې په هغه سره حرمت مصاهرت ثابتيږي لکه دخاوندله دي سره وطی کول ،مچه اخيستل ،په شهوت سره مس کول ،اوفرج داخل ته په شهوت سره کتل اوهرهغه عمل چې په هغه سره حرمت مصاهرت ثابتيږي په هغه سره رجعت هم ثابتيږي ،مګررجعت فعلي څرنګه چې مکروه دی په دي وجه له دي څخه وروسته مراجعت قولي مستحب دی .

(۱۴۳)خاوندلره مستحب دی چې په رجعت دوه ګواهان جوړکړي يعنی دوومسلمانونارينه وته ووايي چې تاسې ګواه اوسئ ماخپلې ښځې ته رجوع کړي ده ،دادي لپاره ترڅوپه اينده کې دانکارنوبت رانه شي ،که خاوندګواه جوړنه کړل نوهم رجعت صحيح دی ولی چې رجعت دنکاح برقرارساتلونوم دی اودنکاح برقرارساتلولپاره شهادت شرط نه دی لهذادرجعت لپاره هم شهادت شرط نه دی ،دمصنف په قول عليهاکي ضميردرجعت طرف ته راجع دی ای الاشهادمندوب علی الرجعة .

(۱۴۴)وَلَوْ قَالَ بَعْدَ الْعِدَّةِ رَاجَعْتُكِ فِيهَا فَصَدَّقَتْهُ تَصِحُّ(۱۴۵)وَإِلَّا لَا(۱۴۶)كَرَاجَعْتُكِ فَقَالَتْ مُجِيبَةً مَضَتْ عِدَّتِي(۱۴۷)وَلَوْ قَالَ زَوْجُ الْأَمَةِ بَعْدَ الْعِدَّةِ رَاجَعْتُ فِيهَا فَصَدَّقَهُ سَيِّدُهَا وَكَذَّبَتْهُ أَوْ قَالَتْ مَضَتْ عِدَّتِي وَأَنْكَرَا فَالْقَوْلُ لَهَا

ترجمه :اوکه خاوندوويل له عدت څخه وروسته ماتاته رجوع کړي وه په عدت کې اوښځې تصديق وکړده نوداصحيح دی که نه نو نه دی ،مثلاوی ويل ماتاته رجوع کړي ده ښځې په ځواب کې وويل زماعدت تيرشو ،اوکه وويل دمينځې خاوندله عدت څخه وروسته ماتاته رجوع کړي وه په عدت کې اودده تصديق وکړدمينځې مولی اومينځې په خپله دده تکذيب وکړيايې وويل چې زماعدت تيرشواوخاونداومالک انکاروکړنوقول به دښځې معتبروي .

تشريح :(۱۴۴)كه له عدت تيريدلو څخه وروسته خاوندخپلې ښځې ته وويل ماتاته په عدت کې رجوع كړي وه اوښځې دزوج تصديق وكړنورجعت ثابتيږي ولى چې په تصادق سره نكاح ثابتيږي نورجعت خوپه طريقه اولى سره ثابتيږي.

(۱۴۵)قوله والالاى وان لم تصدقه المراة لاتصح الرجعة ،يعنى كه په مذكوره بالاصورت کې ښځې دخاوندتكذيب وكړ نودښځې قول به معتبروي وجه داده چې خاونددداسې شئ خبروركړى دى چې دهغه انشاء دې فى الحال نه شې كولى نودى په دې كې متهم دى اودمتهم قول مردوددى .مگرځرنگه چې دښځې په تصديق كولوسره دزوج تهمت ليرې كيږي په دې وجه دتصديق په صورت کې رجعت ثابتيږي.

ف:دښځې دانكارپه صورت کې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپرښځې قسم نشته اودصاحبينوپه نزدبه ښځې ته قسم وركول كيږي .داله هغواتومسائلوڅخه ده چې په هغوکې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزداستحلاف نشته ،دصاحبينوقول راجح دى لمافى ردالمحتار:۲/۵۷۷.والفتوى على انه يحلف فى الاشياء السبعة وفى الدرالمختار:(ولاتحليف فى نكاح)انكره هواوهى(ورجعة) جحدهاهواوهى بعدعدة........الى ان قال والحاصل ان المفتى به التحليف فى الكل الافى الحدود(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۲/۳۷۲)

(۱۴۶)قوله كراجعتک الخ اى قول الزوج لامراته راجعتک فقالت مجيبة الخ ،يعنى كه خاوندخپلې ښځې ته وويل ماتاته رجوع كړې ده ښځې متصلاپه ځواب کې ورته وويل زماعدت تيرشوى دى نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدرجعت صحيح نه دى ولى چې ښځه دعدت دانقضاءپه خبروركولوکې امينه ده نوكله چې داخبروكوي چې عدت له رجوع څخه وړاندې تيرشوى دى نورجعت صحيح نه دى ځكه چې له عدت تيريدلوڅخه وروسته رجعت معتبرنه دى.

ف:دصاحبينوپه نزدپه مذكوره صورت کې رجعت صحيح دى ولى چې رجعت دعدت زمانه ومونده ولى چې په په استصحاب حال سره ظاهريږي چې عدت باقى ده ترڅوچې ښځه دعدت دتيريدلوخبرورنه كړي نومعلومه شوه چې دخاوندرجوع كول وړاندې دى اودښځې دعدت تيريدلوخبروركول وروسته دى اودعدت په زمانه کې رجعت صحيح دى. دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى لمافى الهندية:لوقال لهاراجعتک فقالت المراة موصولابكلام الزوج انقضت عدتى لم تصح الرجعة فى قول ابى حنيفة وعندهماتصح الرجعة كذافى الخانية والصحيح قول ابى حنيفة(۱/۴۷۰)

(۱۴۷)كه دمينځې خاونددې دعدت له تيريدلووروسته وويل چې ماتاته په عدت کې رجوع كړي ده ،دمينځې مولى دده تصديق وكړاوخپله مينځې دده تكذيب وكړيامينځې دخاوندرجوع كولوپروخت وويل چې زماعدت تيرشوى دى اووج اومولى انكاروكړنوپه دې دووصورتونوکې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدمينځې قول معتبردى يعنى رجعت نه ثابتيږي ولى چې رجعت حكم په بقاءعدت اوانقضاءعدت باندې مبني دى اودعدت په بقاء اوانقضاء کې دښځې قول معتبردى نوكوم شئ چې پرعدت مبنى وي (يعنى رجعت)په هغه کې به هم دښځې قول معتبروي.

ف:دصاحبينوپه نزددمولى قول معتبردى.يعنى رجعت ثابتيږي ولى چې له عدت تيريدلوڅخه وروسته دبضع منافع د مولى مملوک دي نوخاوندلره دمنافع بضع اقراركول خالص دخپل حق اقراركول دي

نو داداسې ده لکه چې مولی پرخپله مینځه دنکاح اقرار وکړي مثلاً وواېي چې ما دخپلې مینځې له فلان سره نکاح وکړه نوپه دي اقرار کې د مولی قول معتبر دی.

ف :دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافي الهدیة :اذاقال زوج الامة بعدالقضاء عدتهاقد کنت راجعتک وصدقه المولی وکذبته الامة فالقول قولها وقالا القول قول المولی والصحیح قول ابی حنیفه (الهدیة: ۱/۲۷۰)

(۱۴۸) وَتَنقَطِعُ إِنْ طَهُرَتْ مِنَ الْحَيْضِ الْآخِرِ لِعَشَرَةٍ وَإِنْ لَمْ تَغْتَسِلْ وَلِأَقَلَّ لَا حَتَّى تَغْتَسِلَ أَوْ يَمْضِيَ وَقْتُ صَلَاةٍ (۱۴۹) أَوْ تَتَيَمَّمَ وَتُصَلِّيَ (۱۵۰) وَلَوِ اغْتَسَلَتْ وَنَسِيَتْ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ تَنقَطِعُ وَلَوْ عُضْوًا لَا

ترجمه :او منقطع کیږي عدت که ښځه پاکه شوه له اخیري حیض څخه پرلسو ورځو اګرچه غسل یې نه وي کړی او له لسو ورځو څخه په لږکې نه ترڅو چې غسل وکړي یاتیرشي دلمانځه وخت ،یاتیمم وکړي او لمونځ اداء کړي ،او که ښځې غسل وکړاو هیرېې شوله یو عضو څخه کم نو منقطع کیږي او که یو عضو وو نو نه منقطع کیږي.

تشریح :(۱۴۸)که په پوره لسوورځودازادي ښځې داخیري حیض یعنی دریم حیض او دمینځې ددوهم حیض وینې منقطع شوي نورجعت منقطع شوا ودښځې عدت ختم شوکه څه هم ښځې غسل نه وي کړی ،او که له لسوورځو څخه په کم کې وینې منقطع شوي نومحض دوینوپه انقطاع سره رجعت نه منقطع کیږي ترڅوچې هغه ښځه غسل وکړي یاپردي دلمانځه وخت تیرشي ولی چې درجعت منقطع کیدل موقوف دي په عدت تیریدلوپوري اوعدت تیریدل موقوف دی له دریم حیض څخه په فارغیدلوپوري اوله دریم حیض څخه فارغیدل موقوف دي په حصول طهارت پوري ،نوکه ایام حیض پوره لس ورځې وي نو طهارت په محض انقطاع دم سره حاصلیږي په دي وجه چې حیض له لسوورځوڅخه دزیادت احتمال نه لري لهذا دلسوورځوډپوره کیدلوپه صورت کې محض دوینې په منقطع کیدلوسره دي ښځې لره له حیض څخه فراغت حاصلیږي اوددي عدت هم ختمیږي اودرجعت حکم به هم منقطع کیږي خواه که غسل وکړي او که یې نه وکړي .اوله لسورځو څخه په کم کې که ددریم حیض وینه منقطع شوه نوځرنګه چې په دي صورت کې دوینې دراګرځیدلواحتمال شته ځکه نوضروري ده چې دانقطاع دم حکم مؤکدکړای شي په غسل کولوباندي اویادپاکوښځولو احکامو څخه دکوم حکم پردي لازمیدلو باندي مثلاًکله چې پردي ښځې دلمانځه وخت تیرشونودالمونځ ددي پرذمه دین شوا ودادپاکوښځوله احکامو څخه دی نوکله چې له دي امورو څخه په یو امرانقطاع دم مؤکد شي نودابه ګڼل کیږي چې ددي عدت تیرشو.

(۱۴۹)همداشان که دمعتده رجعیه دد ریم حیض وینه له لسوورځو څخه کمه منقطع شوه یادعذرپه وجه دي ښځې تیمم وواهه اولمونځ یې اداء کړخواه که فرض وي او که نفل نودشیخینوپه نزداستحسانا رجعت منقطع شویعنی درجعت انقطاع به په تیمم اولمانځه دواړوسره وي ولی چې تیمم په حقیقت کې ملوث دی نه مطهرلیکن شریعت دضرورت په اساس (ترڅوواجبات دده پرذمه ځوځنده نه شي)دتیمم دمطهروالی اعتبار کړی دی نو ضرورت داداء صلوة پروخت متحقق کیږي نه له دي څخه وړاندي لهذابغیراداء صلوة به دطهارت تیمم اعتبارنه وي.

ف: دامام محمد رحمه الله په نزد په محض تيمم وهلو سره هم رجعت منقطع کيږي ولی چې دضرورت په وخت کې تيمم طهارت مطلقه دی چنانچه په تيمم سره هغه ټول احکام ثابتيږي کوم چې په غسل سره ثابتيږي لهذا کوم حکم چې دغسل دی هغه به دتيمم هم وي .دامام محمد رحمه الله قول راجح دی لمافي الدرالمختار:(ولاقل لا)تنقطع (حتى تغتسل)..........(او)حتى (تيمم)عندعدم الماء (ولايصلي)ولونفلاكاملة :قال العلامة ابن عابدين :وقال محمدتنقطع بمجردالتيمم وهوالقياس لانه طهارة مطلقة ورجحه في الفتح واقره في البحروالنهر (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۲/۵۲۸)

(۱۵۰)که له لسو ورځو ځخه په کموکې دوينې دمنقطع کيدلو ځخه وروسته ښځې غسل وکړاودبدن څه حصه يې هيره شوه چې په هغه يې اوبه نه کړي توی نوکه هغه حصه له يوه عضوځخه کمه وه نورجعت منقطع کيږي .اوکه هغه حصه له يوعضويا له عضوځخه ډيره وه نورجعت نه منقطع کيږي ولی چې دغسل نه کولوپه وجه سره عدت باقي دی ،داحکم استحساناً دی وجه داستحسان په عضو کامل اومادون العضوکې وجه دفرق ده چې له عضوځخه کم دقلت په وجه زر اوچيږي خاص کرچې ګرمي ډيره وي نودي حصې ته داوبونه رسيدلو يقين نه شي کيدای بلکه کيدای شي چې هغه حصه دي پرېمنځل شوي وي مګرزردي اوچه شوي وي ځکه نوموږ په احتياط په عمل کولوسره وويل چې درجعت حکم منقطع شو.ددي په خلاف که عضوکامل وچ پاتې شونودرجعت حکم نه منقطع کيږي ولی چې عضوکامل زرنه اوچيږي اوعادتاً له عضوکامل ځخه انسان غافل هم نه شي پاتې کيدای لهذا هم دابه ويل کيږي چې تراوسه يې داحصه نه ده پريمنځلې اوکله چې داسې شونودغسل دنامکمل والی په وجه سره عدت باقي دی .

(۱۵۱)وَلَوْ طَلَّقَ ذَاتَ حَمْلٍ أَوْ وَلَدٍ وَقَالَ لَمْ أَطَأْهَا رَاجَعَ(۱۵۲)وَإِنْ خَلَا بِهَا وَقَالَ لَمْ أُجَامِعْهَا ثُمَّ طَلَّقَهَا لَا(۱۵۳)وَإِنْ رَاجَعَهَا ثُمَّ وَلَدَتْ بَعْدَهَا لِأَقَلَّ مِنْ عَامَيْنِ صَحَّتْ تِلْكَ الرَّجْعَةُ(۱۵۴)إنْ وَلَدْت فَأَنْتِ طَالِقٌ فَوَلَدَتْ ثُمَّ وَلَدَتْ مِنْ بَطْنٍ آخَرَ فَهِيَ رَجْعَةٌ(۱۵۵)كُلَّمَا وَلَدْت فَأَنْتِ طَالِقٌ فَوَلَدَتْ ثَلَاثَةً فِي بُطُونٍ فَالْوَلَدُ الثَّانِي وَالثَّالِثُ رَجْعَةٌ

ترجمه :اوکه خاوند طلاق ورکړحامله ښځې ته يا دهغې بچی پيدا شوا وخاوند وويل چې ماوطی نه ده کړي له دي سره نورجعت کولی شي ،اوکه يې خلوت وکړاو وي ويل چې ماوطی نه ده کړي له دي سره بيا يې طلاق ورکړنونه ،اوکه خاوند رجوع وکړه دي ته بيا دي بچی پيدا شوله دي ځخه وروسته تردوه کاله په لږوخت کښې صحيح ده هغه رجوع، (خاوند وويل)که تا بچی وزيږاوونوته طلاقه يې نوهغې يوبچی وزيږاو وبيا يې يوبل بچی وزيږاو وله بل بطن ځخه نو دارجعت دی،(که خاوند وويل)کله چې هم ته ماشوم وزيږوې نوته طلاقه يې نودي دري ماشومان وزيږول له جلا جلا بطن ځخه نودوهم اودريم ماشوم سبب رجعت دی.

تشريح :(۱۵۱)که خاوند خپلې ښځې ته طلاق ورکړاوحال داچې دده دا ښځه حامله وه يا له طلاق ځخه وړاندي دنکاح په وخت دي ماشوم زيږولی ووپه دي شرط چې دنکاح اوولادت په منځ کې دومره وخت تيرشوی ووچې په هغه کې ددي دماشوم زيږيدل متصوروو يعنی لږترلږه شپږمياشتې تيري شوي وي ، حال داچې داکس وايي چې ماله دي سره جماع نه ده کړي نودي کس لره درجعت اختيارشته ولی کله چې حمل په دو مده کې ظاهرشو چې له خاوند ځخه دهغه علوق ممکن دی نوهغه دخاوند شمارل کيږي ولی چې دنبی کريم ﷺ ارشاددی چې «الولدللفراش»(ماشوم دفراش دی)نودماشوم نسب له دي خاوند ځخه ثابت شونودی .ه وطی کونکی شمارل کيږي اوکله چې وطی ثابته شوه نوملک مؤکدشو يعنی دښځې مدخول بهاوالی

ثابت شوا ومدخول بهاته که طلاق ورکړل شونوهغې ته رجوع کول صحیح ده لهذاخاوندلره درجعت اختیارشته ،پاتې شودده داقول چې ماجماع نه ده کړې نوهغه دشریعت له طرفه ددرواغ ګڼلوپه وجه باطلیږي

(۱۵۲)اوکه خاوندله خپلې ښځې سره خلوت صحیحه (خلوت صحیحه هغه دی چې زوجین په تنهائي کې سره یوځای شي اوله جماع څخه هیڅ قسم مانع موجودنه وي)وکړبیایې وویل چې ماله دي سره جماع نه ده کړې بیایې دي ته طلاق ورکړ نواوس به دده لره درجوع کولواختیارنه وي ولې چې ملک نکاح په وطی سره مؤکدکیږي اودوطی دنه کولوده اقرارکړی دی نودده په حق کې به دده داقرارتصدیق کیږي اورجعت دده حق دی لهذادرجعت دحق په باطلولوکې به دده قول معتبروي .

(۱۵۳)قوله فان راجعهاثم ولدت بعدهاالخ ای ان طلقهابعدماخلابهاوقال لم اجامعهاثم راجعهاالخ ،یعنی که له خلوت صحیحه څخه وروسته ده وویل چې ماجماع نه ده کړې بیایې خپلې ښځې ته رجوع وکړه (سره له دي چې ده لره دمراجعت حق نه وو)بیادي ښځې دطلاق له وخت څخه ددووکالوترپوره کیدلوورااندي ماشوم وزیږاوونودخاونددارجعت صحیح شوولی چې ددي ماشوم نسب له ده څخه ثابتیږي ځکه چې ښځې دعدت دتیریدلواقرارنه ده کړی اوماشوم.تردوه کاله پوري دموریه نس کې اوسیدلی شي نوداکس قبل الطلاق واطی شمارل کیږي نه بعدالطلاق ولی چې مسلمان حرام کارنه کوي .

(۱۵۴)قوله وان ولدت فانت طالق الخ ای لوقال الزوج لامرأته ان ولدت فانت طالق الخ ،یعنی که چاخپلې ښځې ته وویل ان ولدت فانت طالق (که تاماشوم وزیږاوونوته طلاقه یې)بیاهغې یوماشوم وزیږاوواوبیایې شپږمیاشتې وروسته په بل حمل سره دوهم ماشوم وزیږاوونوادوهم ماشوم ولادت دخاوندله طرفه رجعت دی ولی چې دولداول په ولادت سره طلاق واقع شوځکه چې شرط موجودشو ،اوس دوهم ماشوم دعدت په دوران کې پیداکیږي ولی چې ښځې دعدت دتیریدلواقرارنه ده کړی اودعدت په دوران کې وطی کول رجعت دی .

(۱۵۵)که چاخپلې ښځې ته وویل کلماولدت فانت طالق (کله چې هم ته ماشوم وزیږوي نوته طلاقه یې)اوس هغې علیحده علیحده په دري ځلې حمل سره دري ماشومان وزیږول نوددوهم ماشوم زیږدل په اول طلاق کې اوددریم ماشوم زیږیدل په دریم طلاق کې رجعت شمارل کیږي ولی چې دشرط مطابق داول ماشوم له زیږیدلو څخه وروسته یوطلاق واقع شومګرکله چې ددوهم ماشوم حمل واخیستل شونوداله اول طلاق څخه رجعت شمارل کیږي بیاچې یې کله دوهم ماشوم وزیږیدی نودشرط مطابق دوهم طلاق واقع شومګرکله چې دریم حمل متقررشونوداله دوهم طلاق څخه رجعت شمارل کیږي بیاچې کله دریم ماشوم وزیږیدی نواوس دامطلقه مغلظه شوه لهذاله دي څخه وروسته خاونددرجوع کولوحق نه لري ،بیاهم که ددي ماشوم زیږي په بل بطن سره نوپه دي سره رجعت نه ثابتیږي ولی چې له دري طلاقه وروسته رجعت متصورنه دی ،اودماشوم نسب هم له دي کس څخه نه ثابتیږي ځکه چې ده لره له دي ښځې سره وطی کول حرامه ده .

(۱۵۶)والمطلّقة الرّجعیة تتزیّن (۱۵۷)وندب ان لایدخل علیها حتی یؤذنها (۱۵۸)ولایسافربها (۱۵۹)والطّلاق الرّجعی لایحرم الوطء

ترجمه: او مطلقه رجعيه دځان ښائسته کوي ،او خاوندلره مندوب ده چې داخل نه شي پر دي ترڅوچې دي ته اطلاع ورکړي ،او نه دي په سفربيايې دا ترڅوچې دي ته رجوع وکړي ،او رجعي طلاق نه حراموي وطی .

تشريح: (۱۵۶) کومې ښځې ته چې طلاق رجعي ورکړل شوی وي هغې ته په کار ده چې خپل خاوندته خپل ځان ښائسته کړي ولی چې ددوئ په منځ کې زوجيت قائم دی او رجعت مستحب دی او تزين دهغه داعی دی لهذا تزين مشروع دی، مګر دا هغه وخت دی چې دخاوند درجوع کولو اميدوي او خاوند حاضر وي نو که درجعت اميد نه وو يا خاوند غائب وو نو بيا دي ښځه تزيين نه کوي .

(۱۵۷) که دښځې دخاوند درجوع کولو اراده نه وه نو ده لره مستحب ده چې له اطلاع ورکولو بغير يا دبوټو دا وازله اورولو بغير ښځې ته ورنه شي ولی چې ښځه ډيروخت په کورکې ځان لڅوي نو دخاوند نظر به داسې ځای لګيدلی شي چې په هغه سره رجعت ثابتيږي بيا به طلاق ورکوي نو بلا وجه به دښځې عدت اوږدشي .

(۱۵۸) او ترڅوچې مطلقه رجعيه ته مراجعت ونه کړي هغه دي له ځان سره په سفرنه بيايې ، دامام زفر رحمه الله په دي کې اختلاف دی دده په نزد مطلقه رجعيه په سفربيول جائزده دده دليل دادی چې له طلاق رجعي څخه وروسته هم ددوئ په منځ کې نکاح قائمه ده لهذا دغير مطلقه منکوحې په شان دا هم په سفربيول جائزده .زموږ دليل دادی چې دباری تعالی دا قول ﴿ولاتخرجوهن من بيوتهن الاية﴾ د مطلقه رجعيه په باره کې نازل شوی دی .

(۱۵۹) طلاق رجعي وطی نه حراموي ولی چې طلاق رجعي ملک نکاح نه زائلوي همدا وجه ده چې دښځې له رضا څخه بغير خاونددي ته مراجعت کولی شي وقال الله تعالى ﴿وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ﴾ باری تعالی له طلاق رجعي څخه وروسته مطلِّق ته بعل ويلی دی او بعل زوج ته ويل کيږي له طلاق څخه وروسته مطلِّق ته له زوج ويلو څخه ځرګنديږي چې ملک نکاح قائم دی .

ف: امام شافعي رحمه الله فرمايې چې طلاق رجعي وطی حراموي ولی چې دجواز وطی لپاره دملک نکاح قائم والی شرط دی حال دا چې ملک نکاح دطلاق په وجه سره زائل شو لهذا له طلاق رجعي وروسته وطی جائزه نه ده .

فَصْلٌ فِيمَا تَحِلُّ بِهِ الْمُطَلَّقَةُ

مصنف رحمه الله له دي څخه وړاندي دمراجعت هغه صورتونه بيان کړل چې په هغوسره دطلاق رجعي تدارک کيدای شي ،په دي فصل کې هغه صورتونه بيانوي چې دهغوپه ذريعه سره له طلاق رجعي څخه دماسوا طلاقونو تدارک کيدای شي .

(۱۶۰) وَيَنْكِحُ مُبَانَتَهُ فِي الْعِدَّةِ وَبَعْدَهَا (۱۶۱) لَا الْمُبَانَةَ بِالثَّلَاثِ لَوْ حُرَّةً وَبِالثِّنْتَيْنِ لَوْ أَمَةً حَتَّى يَطَأَهَا غَيْرُهُ (۱۶۲) وَلَوْ مُرَاهِقًا (۱۶۳) بِنِكَاحٍ صَحِيحٍ وَتَمْضِيَ عِدَّتُهُ (۱۶۴) لَا بِمِلْكِ يَمِينٍ وَكُرِهَ بِشَرْطِ التَّحْلِيلِ لِلْأَوَّلِ

ترجمه :اونكاح كولی شي له خپلې بائنه سره په عدت كې اوله عدت څخه وروسته ،نه هغه چې داپه دري طلاقو سره بائنه شوي وي كه ازاده وه اوپه دووسره كه مينځه وي ترڅوچې وطی وكړي له دي سره بل ،كه څه هم هغه مراهق وي ،په نكاح صحيح سره اوددي عدت تيرشي ،نه په ملك يمين سره ،اومكروه ده دحلالولوپه شرط سره كه څه هم هغه حلاليږي داول لپاره.

تشريح :(۱۶۰)كه خاوندله دريوڅخه كم يوياد وه بائن طلاقه وركړي وي نوخاوندلره اختياردی كه يې خوښه وي نوله دي معتدي سره دي په عدت كې نكاح وكړي ياوروسته له عدت څخه ولی چې ښځه محل نكاح ده اوحلت محل تراوسه باقی دی ولی چې دحلت زوال په دريم طلاق پوري معلق دی اومعلق بالشرط له وجودشرط څخه وړاندي معدوم وي نوكله چې حلت محل ثابت شونوخاوندلره په نكاح كول هم حلال وي.

(۱۶۱)قوله لاالمبانة بالثلث لوحرة ای لاينكح المبانة بالطلقات الثلاث الخ ،يعنی كه خاوندخپلې ازادي ښځې ته دري طلاقه وركړل ياپې مينځې ښځې ته دوه طلاقه وركړل نودا ښځه خاوندته حلاله نه ده ترڅوچې له بل خاوندسره صحيح نكاح وكړي (له بل خاوندسره نكاح صحيح شرط ده)اوهغه پردي دخول هم وكړي ييادي ته طلاق وركړي ياوفات شي اوښځه عدت تيركړي نواوس له دي سره دوهم ځل نكاح كول صحيح ده لقوله تعالى ﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ﴾ (يعنی بياله دوه طلاقه وروسته كه خاونددريم طلاق وركړي نومطلقه دي خاوندلره حلاله نه ده ترڅوچې له بل خاوندسره نكاح وكړي)اوله نكاح كولوڅخه مراددبل خاوندله دي سره وطی كول مرادده.

(۱۶۲)قوله ولومراهقاای ولوكان الغير صبياقريبامن البلوغ ،يعنی له دري طلاقه وروسته مطلق لره مطلقه هغه وخت حلاليږي چې داله بل كس سره نكاح وكړي كه څه هم هغه كس كوم مزاهق (قريب البلوغ ماشوم وهوالذی تتحرك آلته ويشتهي الجماع وقدره شمس الائمة بعشرسنين)هلك وي نوكه مراهق هلك له مطلقه ثلاثه سرنكاح وكړه اووطی يې وكړه نودی دزوج اول لپاره په حلالولو كې دبالغ په حكم كې دی ولی چې له مراهق سره په نكاح صحيح سره وطی متحققه شوه اودتحليل لپاره همدا شرط ده انزال شرط نه دی.

(۱۶۳)قوله بنكاح صحيح ای حتی يطاالمبانة بالثلاث زوج اخربنكاح صحيح ،يعنی له مطلقه ثلاثه سره دمطلق نكاح كول صحيح نه ده ترڅوچې هغه له بل خاوندسره صحيح نكاح ونه كړي اوهغه پردي دخول هم وكړي ييادي ته طلاق وركړي ياوفات شي اوښځه عدت تيركړي نواوس له دي سره دوهم ځل نكاح كول صحيح ده لقوله تعالى ﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ﴾ (يعنی بياله دوه طلاقه وروسته كه خاونددريم طلاق وركړي نومطلقه دي خاوندلره حلاله نه ده ترڅوچې له بل خاوندسره نكاح وكړي).

(۱۶۴)قوله لابملك يمين ای لاتحل له المبانة بالثلاث اذاوطيهااخره بملك يمين ،يعنی كه چا خپلې ښځې (كومه چې دبل چامينځه ده)ته دوه طلاقه وركړل بياله عدت تيريدلوڅخه وروسته ددي مينځې مولی له دي مينځې سره وطی وكړه نودا ښځه زوج اول لره حلاله نه ده ولی چې دزوج وطی كول په نص سره ثابته ده وهوقوله تعالى ﴿حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ﴾ اومولی زوج نه دی لهذا دمولی په وطی كولوسره مطلقه ثلاثه زوج اول ته نه حلاليږي.

الغاز :اى مطلقة ثلاثا دخل بها الثاني ولم تحل؟

فقل :اذا كان العقد فاسدا(الاشباه والنظائر)

(۱۶۵)که چا دبل له مطلقه مغلظه سره بشرط تحليل نكاح وكړه يعنى ترڅو چې دا دزوج لپاره حلاله شي اودنكاح كولو په وخت داسې ووايې چې اتزوجک على ان احللک له (زه له تاسره نكاح كوم ترڅو تا دزوج لپاره حلاله كړم)نو دا نكاح مكروه تحريمي ده «لحديث رسول الله ﷺ لَعَنَ اللهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَه» (يعنى الله دي لعنت وكړي په حلاله كونكى باندي اوپه هغه دچاد پاره چې حلاله كيږي)ليكن كه ده له دي سره دوطى كولو وروسته دي ته طلاق وركړنو زوج ته حلاليږي ولى چې دمحلل نكاح هم صحيح ده اودخول هم موجود شوا ودتحليل لپاره نكاح صحيح اودخول شرط دى.

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزد بشرط تحليل نكاح فاسده ده همدا يو روايت له امام ابويوسف رحمه الله څخه هم دى ولى چې دا دنكاح موقت په معنى ده گويا محلل دي ښځې ته وايي ماله تاسره ترفلانى وخته نكاح كړي ده اونكاح موقت فاسده ده نو نكاح بشرط تحليل هم فاسده ده اوكله چې نكاح بشرط تحليل فاسده ده نوپه داسې نكاح سره مغلظه ښځه هم نه حلاليږي ولى چې دحلال والى لپاره نكاح صحيح شرط ده .

(۱۶۶)وَيَهْدِمُ الزَّوْجُ الثَّانِي مَادُونَ الثَّلَاثِ (۱۶۷)وَلَوْ أَخْبَرَتْ مُطَلَّقَةُ الثَّلَاثِ بِمُضِيِّ عِدَّتِهِ وَعِدَّةِ الزَّوْجِ الثَّانِي وَالْمُدَّةُ تَحْتَمِلُهُ لَهُ أَنْ يُصَدِّقَهَا إِنْ غَلَبَ عَلَى ظَنِّهِ صِدْقُهَا

ترجمه :اوختموي زوج ثاني له دريو څخه كم طلاقونه ،اوكه خبرور كړ دري طلاقو والا ښځې د اول اودهم زوج دعدت دتيريدلو اومدت دهغه احتمال لاره نو زوج لره جائزده چې ددي تصديق وكړي كه دده غالب گمان وو ددي درشتيا ويلو.

تشريح :(۱۶۶)كه چا خپلې ازادي ښځې ته يو يا دوه طلاقه وركړل ښځې عدت تير كړله دي څخه وروسته هغې له بل خاوند سره نكاح وكړه اودوهم خاوند هم دي ته طلاق وركړ ښځې له عدت تيرولو وروسته بيرته له اولنى خاوندسره نكاح وكړه نو زوج ثانى يو يادوه طلاقه منهدم كوي لهذا ښځه اولنى خاوندته په دريو طلاقو سره بيرته راځي يعنى اولنى خاوند بيرته ددريو طلاقو مالك دى.دشيخينو په نزد زوج ثانى دري طلاقه په دي ډول منهدم كوي لكه څرنگه چې دري طلاقه منهدم كوي ولى كله چې دري طلاقه منهدم كوي نوله دريو څخه كم خو په طريقه اولى سره منهدم كوي همدا دحضرت ابن عباس ،حضرت ابن عمرواصحاب ابن مسعود رضي الله عنهم قول دى .دامام محمد رحمه الله په نزد زوج ثانى له دريو طلاقو نو څخه كم نه منهدم كوي بلكه دا ښځه كه زوج اول ته بيرته راغله نو دى به دمابقي من الثلث مالك وي همدا دحضرت على ،حضرت عمر،حضرت ابى ابن كعب ،حضرت عمران بن حصين اوحضرت ابوهريره رضي الله عنهم قول دى .

ف:دشيخينو قول راجح دى لمافى الدر المختار:(والزوج الثانى يهدم بالدخول .....مادون الثلاث ايضا)....وعندمحمدو باقى الائمة بمابقى وهوالحق فتح واقره المصنف كغيره ،وقال ابن عابدين تحت (قوله اقره المصنف كغيره)اى صاحب البحروالنهر والمقدسى والشرنبلالى الى ان قال لكن المتون على قول الامام واشارفى متن الملتقى الى ترجيحه ونقل ترجيحه العلامة قاسم عن جماعة من اصحاب الترجيح.(الدر المختارمع الشامية :۲/۵۸۹.)وفى الهندية :ويهدم الزوج الثانى الطلقة والطلقتين كمايهدم الثلاث كذافى الاختيارشرح المختاروهو الصحيح كذافى المضمرات(الهندية:۱/۴۷۵)

(۱۶۷)که چاخپلې ازادې ښځې ته درې طلاقه ورکړل له څه وخت تیریدلو څخه وروسته ښځې ویل چې زماعدت تیرشوی دی اومالہ بل خاوندسره نکاح وکړه هغه پرمادخول وکړاوماته یې طلاق راکړاوماعدت هم پوره شواوحال دادی چې ښځه چې کومه مده بیانوي دامده داسې ده چې ددې ټولوخبرواحتمال هم لري نواولنی خاوندته جائزده چې دی ددې ښځې تصدیق وکړي په دې شرط چې غالب ګمان به یې دښځې درشتیاویلوويولی چې نکاح معامله ده یاامردیني دی ،معامله خوځکه ده چې بضع ددخول په وخت کې متقوم وي ،اوامردیني ځکه دی چې له نکاح سره حلت تعلق نیسي اوپه دې دواړوکې خبرواحد مقبول دی .

بَابُ الْإِيلَاءِ

دباب دایلاء په بیان کې دی

ایلاء له آلی یولی ایلاء څخه ده په معنی دقسم خوړلو ،اوشرعاًڅلورمیاشتې یازائد خپلې منکوحې ته دنه ورنژدې کیدلو قسم خوړلوته ویل کیږي .

دباب الایلاء له ماقبل سره مناسبت دادی چې دښځې تحریم په څلوروطریقوسره کیږي یعنی طلاق ،ایلاء ،ظهار ،لعان ،په دې څلوروکې ترټولووړاندې طلاق ذکرشوولی چې طلاق په تحریم کې اصل دی اوپه خپل وخت کې مباح دی ،بیاایلاء ذکرشوه ځکه چې ایلاء په اباحت کې طلاق ته قریبه ده ولی چې دادیمین والی په حیثیث سره مشروع ده مګرپه دې کې دښځې دوطی دحق دمنع کولوپه وجه سره دظلم معنی هم شته په دې وجه یې له طلاق څخه مؤخره کړه .

(۱)هو الْحَلِفُ عَلَى تَرْكِ قُرْبَانِهَا أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ أو أَكْثَرَ كَقَوْلِهِ وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ أو وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ (۲)فَإِنْ وَطِئَ فِي الْمُدَّةِ كَفَّرَ وَسَقَطَ الْإِيلَاءُ (۳)وَإِلَّا بَانَتْ (۴)وَسَقَطَ الْيَمِينُ لو حَلَفَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ وَبَقِيَتْ لو عَلَى الْأَبَدِ

ترجمه :ایلاء قسم خوړل دي په ترک صحبت له ښځې سره ترڅلورومیاشتویاتردې زائدوخت پورې لکه دخاوندقول والله زه به تاته قریب نه شم ترڅلورومیاشتوپورې یاوالله زه به تاته قریب نه شم ،نوکه ده وطی وکړه په مدت کې نوکفاره به ورکړي اوساقطیږي ایلاء ،که نه نو بائنه کیږي ،اوساقطیږي قسم که یې قسم خوړلی وو پرڅلورومیاشتواوباقی پاتې کیږي که یې دقسم دهیمشه لپاره خوړلی وو .

تشریح :(۱)مصنف رحمه الله دایلاء شرعی تعریف بیان کړی دی چې څلورمیاشتې له دې څخه زیات له خپلې ښځې سره دصحبت نه کولو دقسم خوړلونوم ایلاده مثلاًڅوک خپلې ښځې ته ووایې والله زه به څلورمیاشتې تاته درنژدې نه شم یابغیرله ذکردڅلورومیاشتوداسې ووایې والله زه به تاته درنژدې نه شم نوله دې ویلوڅخه وروسته داشخص ایلاء کونکی شو لقوله تعالی ﴿لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ﴾ یعنی کوم خلک چې له خپلوښځوڅخه ایلاء کوي دهغویٔ لپاره دڅلورومیاشتوانتظاردی)دباری تعالی له دې ارشادڅخه معلومه شوه چې دایلاء مدت څلورمیاشتې دی ولی که له څلورمیاشتوڅخه زیات یاکم وای نودڅلورومیاشتودتنصیص به هیڅ فائده نه وای .

(۲) كه خاوند په مدت ايلاء يعنى څلورمياشتې كې دننه له دې ښځې سره وطى وكړه نو په خپل قسم كې حانث كيږي د محلوف عنه فعل دارتكاب په وجه سره او پر خاوند كفاره يمين وجيږي او ايلاء ساقطيږي ، د سقوط ايلاء مطلب دادى چې كه څلورمياشتې تيري شې نو طلاق نه واقع كيږي ولى چې د حانث كيدلو په وجه سره يمين باقى نه پاتې كيږي او د يمين نوم ايلاء دى نو كله چې يمين باقى پاتې نه شو نو ايلاء هم باقى نه پاتې كيږي .

(۳) قوله وإلا بانت اى وإن لم يطأها فى اربعة اشهر حتى مضت بانت المراة منه بتطليقة واحدة ، يعنى كه خاوند د ايلاء په مده كې ښځې ته ورنږدې نه شو تر څو چې څلورمياشتې تيري شې نو دا ښځه پرده په يوه طلاق سره بائنه كيږي ولى چې خاوند د ښځې د جماع د حق په منع كولو سره پر دې ظلم وكړ نو شريعت خاوند ته دده د ظلم بدله داسې وركړه چې د ايلاء د مدت په تيريدلو سره يې نعمت نكاح زائل كړ .

(۴) او يمين ساقطيږي كه ده د څلورومياشتو دننه نزديكت قسم خوړلى وو ولى چې يمين د څلورو مياشتو په مده پوري موقت وو لهذا دې مدت د تيريدلو وروسته يمين باقى نه پاتې كيږي بلكه ساقطيږي او كه ده هميشه لپاره د نه نزديكت قسم خوړلى وو نو كه څلورمياشتې بلاوطى تيري شوي نو پر ښځې يو طلاق بائن واقع كيږي او قسم باقى پاتې كيږي ولى چې په دې صورت كې قسم په كوم وخت پوري مقيد نه دى لهذا دا يمين موبد دى او د موجب حنث (يعنى وطى) د نه وجود په وجه سره خاوند حانث هم نه شو تر څو يمين مرتفع شوى واى لهذا يمين پر خپل حال باقى پاتې كيږي .

(۵) وَلَوْ نَكَحَهَا ثَانِيًا وَثَالِثًا وَمَضَتِ الْمُدَّتَانِ بِلَا فَيْءٍ بَانَتْ بِأُخْرَيَيْنِ (۶) وَلَوْ نَكَحَهَا بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ لَمْ تَطْلُقْ فَلَوْ وَطِئَهَا كَفَّرَ لِبَقَاءِ الْيَمِينِ (۷) وَلَا إِيلَاءَ فِيمَا دُونَ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ (۸) وَ وَاللّٰهِ لَا أَقْرَبُكِ شَهْرَيْنِ وَشَهْرَيْنِ بَعْدَ هٰذَيْنِ الشَّهْرَيْنِ إِيلَاءٌ (۹) وَلَوْ مَكَثَ يَوْمًا ثُمَّ قَالَ وَاللّٰهِ لَا أَقْرَبُكِ شَهْرَيْنِ بَعْدَ الشَّهْرَيْنِ الْأَوَّلَيْنِ (۱۰) او قال وَاللّٰهِ لَا أَقْرَبُكِ سَنَةً إِلَّا يَوْمًا (۱۱) او قال بِالْبَصْرَةِ وَاللّٰهِ لَا أَدْخُلُ مَكَّةَ وَهِيَ بِهَا لَا

ترجمه: او كه يې له دې سره نكاح وكړه دوهم ځل يا دريم ځل او تيري شوي دواړه مدې بلا رجوع نو بائنه كيږي په آخيري دوو سره ، بيا كه يې نكاح وكړه له دې سره له دوهم خاوند څخه وروسته نو طلاق نه واقع كيږي او كه يې له دې سره وطى وكړه نو كفاره دې وركړي د بقاء قسم په وجه سره ، او ايلاء نشته تر څلورو مياشتو څخه په كم كې ، (د خاوند دا قول) والله تا ته نه ورنږدې كيږم دوه مياشتې او دوه مياشتې له دې دوو مياشتو وروسته نو ايلاء ده ، او كه وځنډيدو يوه ورځ بيا يې وويل والله زه تا ته نه ورنږدې كيږم دوه مياشتې له اولنيو دوو مياشتو وروسته ، يا يې وويل زه تا ته نه ورنږدې كيږم يو كال مگر يوه ورځ ، يا يې په بصره كې وويل والله زه به مكې ته داخل نه شم او دده ښځه په مكه كې ده نو نشته .

تشريح: (۵) كه خاوند د هميشه لپاره د نه نزديكت قسم خوړلى وو نو يو ځل له بينونت او عدت تيريدلو څخه وروسته كه ايلاء كونكي بيا له دې ښځې سره نكاح وكړه نو ايلاء هم واپس راګرځي (نو كه ده د ايلاء په مدت كې وطى وكړه نو قسم مات شو او د قسم كفاره لازميږي او ايلاء ختميږي) او كه يې وطى ونه كړه نو د څلورو مياشتو په تيريدلو سره بل طلاق واقع كيږي بيا كه يې دريم ځل له دې سره نكاح وكړه نو ايلاء بيرته راګرځي او د څلورو مياشتو په تيريدلو سره طلاق واقع كيږي ، په دې شرط چې په دې مدت كې له ښځې سره وطى ونه كړي ، په مخكنى دليل كې تير شو چې قسم د مطلق عن الوقت كيدلو په وجه سره اوس هم باقى دى

اوپه نکاح کولوسره دښځې حق جماع ثابت شولهذادزوج له طرفه دجماع په منع کولوسره ظلم متحقق شونوپه بینونت سره به ده ته سزاء ورکول کیږي لهذا په دوهم اودریم ځل دطلاق په واقع کیدلوسره دابنځه مطلقه مغلظه شوه.

(۶) اوس څرنګه چې ښځه ددریوطلاقوپه وجه سره مغلظه شوه نوکه له زوج ثاني څخه له حلاله کولووروسته بیامولی (ایلاء کونکې)له دې سره نکاح وکړه نوایلاء باطله شوه لهذادسابقه ایلاء په وجه طلاق نه واقع کیږي ولی چې ایلاء صرف په اولنی ملک پوري مقیده وه ،البته یمین باقي پاتې دي ولی چې یمین مطلق عن الوقت دی اودوطی دنه کولوپه وجه حانث والی هم نه ده موجودشوی نوکه ده له دې ښځې سره وطی وکړه نودخپل قسم کفاره به ورکوي ولی چې قسم یې مات کړ.

(۷)که چاله څلورومیاشتوڅخه کم خپلې ښځې ته دنه نزدیکت قسم وخوړی مثلاوي ویل والله لااقربک شهرااوشهرین اوثلاثة اشهر(والله زه به له تاسره یوه میاشت یادوه میاشتې یادري میاشتې صحبت ونه وکړم)نو داکس ایلاء کونکی نه دی لقول ابن عباس ﷺ لاایلاء فیمادون اربعة اشهر(یعنی له څلورومیاشتوڅخه په لږکې ایلاء نشته).

(۸)قوله والله لااقربک شهرین وشهرین بعدهذین الشهرین ای لوقال الزوج لامرأته لااقربک شهرین وشهرین بعدهذین الشهرین یعنی که چاقسم واخیست چې والله لااقربک شهرین وشهرین بعدهذین الشهرین (والله زه به تاته درنږدي نه شم دوه میاشتې اوله ددي دوومیاشتووروسته نوري دوه میاشتې)نودا ایلاء ده ولی چې ده دوه زمانې په حرف جمع (یعنی واو)سره جمع کړي نودااسې شوه لکه چې ده په لفظ جمع سره جمع کړي وي لهذاداڅلورمیاشتې شماردي که څه هم یې دوه ځایه کړي دي نوګویازوج وویل والله لااقربک اربعة اشهر(والله زه به څلورمیاشتې تاته درنږدي نه شم).

(۹)اوکه خاوندوویل والله لااقربک شهرین (والله زه به تاته درنږدي نه شم دوه میاشتې)بیایوه ورځ یایې څه وخت انتظاروکړبیایې وویل والله لااقربک شهرین بعدالشهرین (والله له دوواولنیو میاشتووروسته دوه نوري میاشتې به زه تاته درنږدي نه شم)نودا ایلاء نه ده ولی کومې دوه میاشتې چې ده نوري زیاتې کړي دانوی ایجاب دی لهذا په دواړه ځله کې مدت یعنی دڅلورومیاشتودنه پوره کیدلوپه وجه داایلاء نه ده.

ف:قاعده داده چې که حالف له حرف عطف وروسته حرف نفي اواسم باری تعالی نه راګرځاوو نودایو قسم دی مذکوره ټوله زمانه دده لپاره ده مثلاچاوویل والله لااکلم زیدایومین ویومین نودایو قسم شمارل کیږي اومانه یې څلورورځې ده. اوکه یې له حرف عطف څخه وروسته حرف نفي اواسم باری تعالی راوګرځاوونودادوه قسمه دي اودواړوپه زمانه کې به تداخل کیږي مثلاچاوویل والله لااکلم زیدایومین ولایومین یایې وویل والله لااکلم زیدایومین والله لااکلم زیدایومین نوپه دې -ووصورتونو کې دوه دوه قسمه دي اودواړوقسمولپاره زمانه یوه ده حتی که ده اوله یادوهمه ورځ خبري وکړي نودده پرذمه دوه کفاري لازمیږي اوکه یې دریمه ورځ خبره وکړه نونه حانث کیږي ولی چې دیمین زمانه تیره شوه.

(۱۰)قوله اوقال لااقربک سنة الايوما اى لوقال الزوج لامرأته لااقربک سنة الايوما لايکون موليا،يعنى كه خاوند وويل والله لااقربک سنة الايوما (والله زه به يوورځ كم يوكال تاته درنږدي نه شم)نوداكس ايلاء كونكى نه شمارل كيږي ولى چې ايلاء كونكى هغه وي كوم چې له لزوم كفاري بغيرله خپلې ښځې سره وطى نه شي كولى حال داچې دلته دامكنه ده چې وطى وكړي اوكفاره لازمه نه شي ولى چې كومه ورځ چې ده مستثنى كړي ده هغه نكره ده نوداكس دكال په هرو ځلورومياشتوكې په كومه ورځ وغواړي وطى كولى شي ددي استثنى په وجه پرده هيڅ نه لازميږي لهذاد ايلاء زمانه پوره نه ده لهذاداكس مولى نه ده .

ف:دامام زفر رحمه الله په نزدمذكوره بالاقائل ايلاء كونكى شمارل كيږي اومستثنى ورځ به دكال اخيري ورځې ته راجع كيږي داداسې ده لكه چې څوک چاته ووايي اجرتک دارى سنة الايوما (ماتاته خپل كوربوه ورځ كم دكال لپاره په كرايه دركړى دى)نومستثنى يوه روځ به دكال اخيري ورځې ته راجع كيږي.امام زفر رحمه الله ته ځواب وركړل شوى دى چې په اجاره كې دمدت دمجهول والى په وجه سره اجاره نه صحيح كيږي نودصحت اجاري لپاره مستثنى ورځ دكال اخيري ورځې ته راجع كيږي ترڅوداجاري مدت معلوم شي په خلاف ديمين چې هغه دجهالت زمانې باوجودصحيح دى نوپه دي كې دمستثنى ورځې دكال اخيري ورځې ته دراجع كولوضرورت نشته .

(۱۱)همداشان كه خاوندپه بصره كې وي مثلااوده ښځه په مكه كې وي خاوند وويل والله لاادخل مكة (والله زه به مكې ته داخل نه شم)نوهم داكس مولى نه دى ولى چې په مدت كې دننه له لزوم كفاره بغيرددي كس له خپلې ښځې سره وطى كول ممكن ده په دي ډول چې ښځه له مكې مكرمې څخه باهرراوباسې اوله دي سره جماع وكړي .

(۱۲)وَإِنْ حَلَفَ بِحَجٍّ أَوْ صَوْمٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ عِتْقٍ أَوْ طَلَاقٍ أَوْ آلَى مِنَ الْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ فَهُوَ مُولٍ (۱۳) وَمِنَ الْمُبَانَةِ وَالْأَجْنَبِيَّةِ لَا (۱۴) وَمُدَّةُ إِيلَاءِ الْأَمَةِ شَهْرَانِ (۱۵) وَإِنْ عَجَزَ الْمُولِي عَنْ وَطْئِهَا بِمَرَضِهِ أَوْ مَرَضِهَا أَوْ بِالرَّتَقِ أَوْ بِالصِّغَرِ أَوْ بِبُعْدِ مَسَافَةٍ فَفَيْئُهُ أَنْ يَقُولَ فِئْتُ إِلَيْهَا (۱۶) وَإِنْ قَدَرَ فِي الْمُدَّةِ فَفَيْئُهُ الْوَطْءُ

ترجمه :كه چاقسم واخيست دحج يادروژي يادازادكولو يادطلاق ياييې ايلاء وكړه له مطلقه رجعيه څخه نودى ايلاء كونكى دى ،اوله بائنه او اجنبيه څخه ايلاء نه كيږي ،اودمينځې دايلاء زمانه دوه مياشتې ده ، اوكه عاجزه شوايلاء كونكى له وطى كولو څخه دخپل مرض په وجه يادښځې دمرض په وجه يادشرمگاه دبندوالى په وجه يادكم عمرى په وجه يادبعد مسافت په وجه نوددده رجوع داده چې ووايي ماروجوع كړي ده دي ته ،اوكه قادرشوپه مدت كې نودده رجعت په وطى سره دى .

تشريح :(۱۲)كه چادحج قسم وخوړى مثلاوي ويل ان قربتک فعلى حج البيت (كه ماله تاسره صحبت وكړنوپرماحج بيت الله لازم دى)ياييې دروژي قسم وخوړى يعنى وى ويل ان قربتک فعلى صوم سنة (كه ماله تاسره صحبت وكړنوپرماديوه كال روژي لازمي دي)اوياييې دصدقې قسم وخوړى مثلاوي ويل ان قربتک فعلى صدقة (كه ماله تاسره صحبت وكړنوپرماصدقه لازمه ده)ياييې دعتق رقبه قسم وخوړى مثلاوى ويل ان قربتک فعبدى حر(كه ماله تاسره صحبت وكړ نوزما غلام ازاددى) ياييې دطلاق قسم وخوړى مثلا وي ويل ان قربتک فضرتک طالق (كه ماله تاسره صحبت وكړنوستابن طلاقه ده)،نو په دي ټولو صورتونوكې داكس مولى

شمارل کیږي ولی چې دقسم یعنی شرط اوجزاء دذکرکولوپه وجه سره له وطی څخه منع متحققه شوه اوداجزاء ګانې یعنی حج اوروژه وغیره مانع عن ارتکاب الشرط دي ولی چې په دې ټولوجزاء ګانوکې مشقت دی ځکه کله چې دشرط ارتکاب وکړي نوجزاء یقیناواقع کیږي اوپه وقوع جزاء کې مشقت دی لهذاجزاء مانع عن الشرط وي نوپه دي ټولوصورتونوکې له ښځې سره له وطی کولوڅخه منع متحققه شوه اودښځې له وطی څخه منع کیدلوته ایلاء ویل کیږي لهذاپه دي ټولوصورتونوکې ایلاء متحققه شوه نوکه څلورمیاشتې زمانه بغیرله وطی تیره شوه نوپردي ښځه یوبائن طلاق واقع کیږي ،همداشان که چاله خپلې مطلقه رجعیه څخه ایلاء وکړه نودبقاء زوجیت په وجه داکس ایلاء کونکی شمارل کیږي .

(۱۳)قوله ومن المبانة والاجنبية لاای لوآلی من المطلقة طلاقابائناوهي في العدة ومن الاجنبية لايكون موليا،یعنی که چاله خپلې مطلقه بائنه څخه ایلاء وکړه نودکس ایلاء کونکی نه شمارل کیږي ولی چې زوجیت باقي نه دی ولی چې وروسته له بینونت څخه ښځې ته دطي حق نشته نوخاونددښځې دحق مانع هم نه شولهذاایلاء نه شوکیلی چې دي کس ته دطلاق جزاء ورکړل شي ،همداشان که چاله اجنبیه ښځې څخه ایلاء وکړه نوداکس مولی نه دی ولی چې اجنبیه دایلاء محل نه دی ځکه چې په نص سره ثابته ده چې ایلاء له خپلې ښځې څخه کیدای شي لقوله تعالی﴿الذين يؤلون من نسائهم تربص اربعة اشهر﴾(یعنی کوم خلګ چې له خپلو ښځوڅخه ایلاء کوي ددوئ لپاره څلورمیاشتې انتظاردی)په ایت مبارکه کې دمن نسائهم په قیدسره له اجنبیه ښځې څخه احترازوشوچې له اجنبیه ښځې څخه ایلاء نشي کیدای .

(۱۴)که دچاښځه مینځه وي نودهغې دایلاء مده دوه میاشتې ده ولی چې دایلاء مده دبائنه کیدلولپاره مقرره شوي ده نودرقیت په وجه به نیمایې پاتې کیږي لکه چې دمینځې دعدت زمانه ازادي ښځې دعدت دزمانې نصف ده ،دامام شافعي رحمه الله په نزددمینځې دایلاء زمانه هم څلورمیاشتې ده ، ولی چې دامده دخاونددظلم داظهارلپاره مقررشوی دي په کوم کې چې ازاده اومینځه دواړه برابردي .

(۱۱۵)که مولی دناروغۍ په وجه په جماع کولوقادرنه وویاښځه ناروغه وه یارتقاء وه (دکومې چې فرج دهډوکي یاغیره دپیداکیدلوپه وجه سره بندوي)یاکوچنۍ وه دجماع قابله نه وه اویادزوجینو ترمنځ دومره مسافت وي چې خاوند دڅلورومیاشتوپه مدت کې دي ته نه شورسیدلی نوپه دي ټولوصورتونوکې خاوندلره درجوع بالقول اختیاردی نوکه خاوندپه مدت ایلاء کې فئت الیها (ماددي طرف ته رجوع وکړه)وویل ،یایې وویل ابطلت الایلاء (یعنی ماایلاء باطله کړي ده)یایې وویل رجعت عنها قلت (ماچې څه ویلې وماله هغه څخه رجوع وکړه)نوایلاء ساقطیږي اورجوع ثابتیږي ولی چې خاونددعجزپه وجه دښځې دجماع دحق منع کونکی دی دده اراده دضرررسولونه ده ولی چې دده اعذاروپه وخت کې ښځې لره دجماع حق نه شته البته په ژبانې ایلاء کړاوسره ښځه په وحشت کې مبتلاء کړي ده اوځرنګه چې توبه بحسب الجنایت وي لهذاپه ژبه سره په وعده کولوښځې لره راضي کول کافي دي اوکله چې په ژبانی وعدي سره ظلم مرتفع شونوپرښځې په طلاق واقع کولوسره خاوندته سزانه شي ورکول کیدای

(۱۶)اوکه داکس په مدت ایلاء (یعنی څلورمیاشتې کې دننه)په جماع قادرشونوده ده زبانې رجوع باطلیږي اوس به حقیقة په جماع کولوسره رجوع کوي ولې چې له حصول مقصودبالخلف څخه وړاندې داکس په اصل قادرشونوداداسې دی لکه چې کوم متیمم کس دلمانځه له اداء کولوڅخه وړاندې پړاوداسه قادرشي نو ده ده تیمم ختمیږي .

(۷)اَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ اِيلاءٌ اِنْ نَوَى التَّحْرِيمَ او لم يَنْوِ شيئا (۱۸)وَظِهَارٌ اِنْ نَوَاهُ (۱۹)وَكَذِبٌ اِنْ نَوَى الْكَذِبَ (۲۰)وَبَائِنَةٌ اِنْ نَوَى الطَّلَاقَ وَثَلَاثٌ اِنْ نَوَاهُ (۲۱)وَذُكِرَ فِي الْفَتَاوَى اِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهِ اَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ وَالْحَرَامُ عِنْدَهُ طَلَاقٌ وَلٰكِنْ لم يَنْوِ طَلَاقًا وَقَعَ الطَّلَاقُ وجعل ناوياعرفا

ترجمه:(دخاوندقول)ته پرماحرامه یې ایلاء ده که یې دتحریم نیت کړی وو یایې هیڅ نیت نه وکړی، اوظهاردی که یې نیت کړی وو دظهار،اودرواغ دي که یې نیت کړی وو ددرواغو،اوبائنه ده که یې دطلاق نیت کړی وو اودرې طلاقه دي که یې ددریوطلاقونیت کړی وو ،اوپه فتاوی کې شته چې کله خاوندخپلې ښځې ته ووایې ته پرماحرامه یې اوحرام دده په نزددطلاق په معنی دی لیکن ده نیت نه وي کړی دطلاق نوواقع کیږي طلاق اودی عرفانیت کونکی شمارل کیږي .

تشریح :(۱۷)که چاخپلې ښځې ته وویل انت علی حرام (ته پرماحرامه یې)نوله دې کس څخه به دنیت پوښتنه وشي ولې چې دده داکلام دڅومعنی ګانواحتمال لري دکومې یوې دمتعین کولولپاره به دقائل دنیت معلومات کول کیږي نوکه قائل وویل چې مادښځې دحراملونیت کړی دی یاهیڅ هم اراده نه وي وکړي نوداایلاء ده ولې چې دحلالوپه حراملوکې اصل دادی چې یمین وي قال الله تعالی ﴿لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكَ﴾ بیایې فرمایلي ﴿قَدْ فَرَضَ اللهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ﴾ نومعلومه شوه چې حلال حرامول یمین دی کله چې داثابته شوه چې دقائل قول یمین دی نوددې په وجه سره به دې مولی وي نوپه څلورومیاشتوکې که یې وطی وکړه نودقسم کفاره به ورکوي که نه نو له څلورومیاشتوروسته به ښځه دایلاء په وجه سره بائنه شي .

(۱۸)که قائل وویل چې مادظهارنیت کړی وونودشیخینوپه نزدداظهاردی ولې چې قائل په خپل کلام کې دحرمت لفظ مطلق ذکرکړی دی اوظهارهم دحرمت یوه نوع ده اوپه مطلق کې دمقید احتمال وي لهذاکله چې قائل دمحتمل نیت کړی دی نوده ده تصدیق به کیږي ،اودامام محمد رحمه الله په نزد ظهارنه دی ولې چې ظهارحلالې ښځې ته له محرمې سره تشبیه ورکولوته ویل کیږي لهذاپه ظهارکې تشبیه ورکول رکن دی اودلته دحرف تشبیه دنه وجودپه وجه سره تشبیه موجودنه ده ځکه نوظهارهم نه دی .

(۱۹)اوکه قائل وویل چې مادرواغونیت کړی وو نوهمداشان به وي څرنګه چې دی وایې ولې چې ده په خپل کلام سره دحقیقي معنی اراده کړې ده ولې چې داښځه ده لره حلاله ده نوانت علی حرام له واقع سره مطابق نه ده لهذادرواغ دیاودکلام دحقیقي معنی نیت کول شرعاًمعتبروي ،لیکن دځینوحضراتورأیه داده چې دده تصدیق به نه کیږي ځکه چې داپه ظاهرکې قسم دی .

(۲۰)که قائل وویل چې مادطلاق نیت کړی وونویوبائن طلاق واقع کیږي ،اوکه یې ددریونیت کړی وي نودرې واقع کیږي ولې چې انت علی حرام له کنایاتوڅخه دی په کوموسره چې دیوبائن نیت کول هم صحیح دی اوددریونیت کول هم صحیح دی دکوم تفصیل چې په باب الکنایات کې تیرشو .

(۲۱) مصنف رحمه الله فرمايي چې په فتاوی کې راغلی دي چې که چاخپلې ښځې ته وويل انت علی حرام (ته پر ما حرامه یې) او دده په نزد حرام دطلاق په معنی وي مګر ده دطلاق نیت نه وي کړی نو طلاق واقع کیږي دعرف په لحاظ سره دی نیت کونکی شمارل کیږي ولی چې نن صبا دطلاق واقع کولو لپاره همدا جمله ويل کيږي چې ته بر ما حرامه یې.

بَابُ الْخُلْعِ

داباب دخلع په بیان کې دی

خلع بضم الخاء لغة دفصل ،ایسته کولو او ایستلو په معنی ده ،ويل کيږي خلع نعله اذا نزعه او اسم دی ده خالعت المرأة زوجها و اختلعت منه بماله ،او شرعاً له ښځې په لفظ خلع سره دنکاح په مقابله کې مال اخیستلو ته ويل کيږي.

که دزوجينو ترمنځ جنجال پيدا شو او داپې محسوسه کړه چې اوس دالله تعالی حدود يعنی دیوبل حقوق زوجیت نه شي اداء کولی نو په دي کې هیڅ مضائقه نشته چې ښځه دخپل ځان په بدله کې خاوند ته فدیه ورکړي او خاوند دی مال په بدله کې له دي سره خلع وکړي لقوله تعالی ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ (يعنی په دوئ دواړو هیڅ ګناه نشته چې ښځه ده ته فدیه ورکړي).

ددي باب له ماقبل سره مناسبت دادی چې ایلاء له مال څخه دخالي والي په وجه اقرب الی الطلاق ده او په خلع کې دښځې له طرف څخه مال وي ځکه یې له طلاق سره متصل ایلاء او بیا خلع ذکر کړه ، همدا راز دایلاء سبب دخاوند له طرفه دنشوز او نفرت اظهار دی او دخلع سبب غالباً دښځې له طرفه نشوز دی.

(۲) الْوَاقِعُ بِهِ وَبِالطَّلَاقِ عَلَى مَالٍ طَلَاقٌ بَائِنٌ وَلَزِمَهَا الْمَالُ (۳) وَكُرِهَ لَهُ أَخْذُ شَيْءٍ إِنْ نَشَزَ (۴) وَإِنْ نَشَزَتْ لَا (۵) وَمَا صَلَحَ مَهْرًا صَلَحَ بَدَلَ الْخُلْعِ

ترجمه: خلع له نکاح څخه دعلیحده کیدلو نوم دی ،او واقع کيږي خلع او طلاق علی المال سره طلاق بائن او لازميږي په ښځه باندي مال ،او مکروه ده خاوند لره څه اخیستل که نشوز دخاوند له طرفه وو ،او که نشوز دښځې له طرفه وو نو نه دی ،او کوم شئ چې دصالح وي دمهر جوړيدلو هغه صالح دی دخلع لپاره هم.

تشریح: (۱) مصنف رحمه الله دخلع شرعی تعریف کړی دی چې له نکاح څخه علیحده کیدل خلع ده ،مګر په دي کې یې دخلع لفظ او دمال ذکر نه ده کړی حال داچې دخلع لفظ ضروري دی ولی چې صرف دمال په عوض کې طلاق ورکولو ته خلع نه ويل کيږي ،هو دمال په عوض کې په طلاق ورکولو سره دخلع په شان بائن طلاق واقع کیږي ،نو صحیح تعریف دادی چې دڅه په اخیستلو سره په لفظ خلع سره نکاح ختمولو ته خلع ويل کيږي ،دخلع هغه شرطونه دي کوم چې دطلاق دي چې خاوند به مکلف وي او ښځه به منکوحه وي او حکم یې دطلاق بائن واقع کیدل دی ،او خلع دخاوند له طرفه یمین دی او دښځې له طرفه معاوضه ده لهذا دخاوند له طرفه به دیمین داحکامو رعایت کیږي او دښځې له طرفه به دمعاوضې داحکامو رعایت کیږي.

(۲)کله چې خاوند فدیه په اخیستلو سره خلع وکړي نوپرښځه یو طلاق بائن واقع کیږي ولی چې لفظ خلع له کنایات طلاق څخه ده اوپه کنایه الفاظوسره بائن طلاق واقع کیږي ،همداشان که خاوندخپلې ښځې ته دمال په عوض کې طلاق ورکړمثلاوي ویل انت طالق علی الف درهم (یعنی ته طلاقه یې په عوض دزرو روپو) اوښځې داقبول کړنوطلاق بائن واقع کیږي اودښځې پرذمه مال لازمیږي ولی چې ښځه له خاوندڅخه دخپل ځان دخلاصولوپه بدل عوض کې دمال په ورکولوراضی ده له ازادي څخه بغیرهغه په مال ورکولوراضی نه ده اوله طلاق بائن څخه بغیرښځه له خاوندڅخه نه ازادیږي لهذادمال په عوض کې دطلاق په صورت بائن طلاق واقع کیږي،اوپه دواړوصورتونوکې پرښځې دفدیه مال ورکول لازم دی ولی چې ښځې په خپله قبول کړی دی،همدارازمال احدالبدلین دی نوکله چې دخاوندله طرفه بدل یعنی (خلع یاطلاق)تسلیم شونوپه دواړوکې دبرابري لپاره ضروري ده چې دوهم بدل (یعنی مال)هم تسلیم شي ولی چې خاوندپردي راضی نه دی چې بضع بغیرله ماله دده ملک څخه زائل شي .

(۳)که دخاوندله طرف څخه دنشوزاونفرت اظهاروو نوخاوندلره له ښځې څخه دخلع څه عوض اخیستل مکروه تحریمي ده لقوله تعالی﴿وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا﴾(اوکه تاسې دیوې ښځې پرځایدبلې ښځې دبدلولواراده وکړه حال داچې تاسې دوئ ته ......ورکړی وي نوتاسې له دي څخه هیڅ مه اخلئ). فلاتأخذوه منه شئاکې نهی لغیره ده اودنهی لغیره په وجه سره دمنهی عنه مشروعیت نه معدومیږي لکه دجمعې داذان پروخت اخیستل اوخرڅول ممنوع لغیره کیدلوباوجودمشروع هم دي .همدارازخاوندپه دي نیت کولوسره ښځه په وحشت کې مبتلاء کړي ده لهذادپرېښودلوپه عوض کې دمال په اخیستلودي زیات وحشت کې نه اچوي ،

(۴)قوله وان نشزت لاای ان نشزت المرأة لایکره له الاخذمنها،یعنی که دنشوزاونفرت اظهاردښځې له طرفه وونوبقدرمهرفدیه اخیستل خاوندلره بلاکراهته جائزده له دي څخه زیات اخیستل مکروه ده ولی چې دثابت بن قیس بن شماس ﷺ ښځې له ثابت بن قیس ﷺ سره خلع کول وغوښتل نونبی کریم ﷺ دي ته وویل ته دده عوض واپس کوي ؟هغې وویل هو،څه زیات لاهم ورکوم ،نبی کریم ﷺ وفرمایل اماالزیادة فلا ،یازیادت مه ورکوه ،لیکن که خاونددمهرله مقدارڅخه زیادت واخیستنو قضاء جائزده لاطلاق قوله تعالی﴿ فلاجناح علیهمافیماافتدت به﴾.

(۵)کوم شی چې په عقدنکاح مهرجوریدلی شي هغه بالاتفاق په عقدخلع کې بدل خلع جوریدلی شي ولی چې دعقدنکاح پروخت بضع متقوم ده اودخلع پروخت غیرمتقوم ،لهذاکوم شئ چې دبضع متقوم عوض جوریدلی شي هغه په طریقه اولی دبضع غیرمتقوم لپاره عوض کیدای شي .

(۶) فَإِنْ خَالَعَهَا أَوْ طَلَّقَهَا بِخَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ أَوْ مَيْتَةٍ وَقَعَ بَائِنٌ فِي الْخُلْعِ (۷) رَجْعِيٌّ فِي غَيْرِهِ مَجَّانًا (۸) كَخَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي وَلَا شَيْءَ فِي يَدِهَا (۹) وَإِنْ زَادَتْ مِنْ مَالٍ أَوْ مِنْ دَرَاهِمَ رَدَّتْ مَهْرَهَا أَوْ ثَلَاثَةَ دَرَاهِمَ

ترجمه :که خاوند خلع وکړه له ښځې سره یاطلاق ورکړښځې ته دشرابویاخنزیراویامرداریه عوض نوبائن طلاق واقع کیږي په خلع کې ،اورجعی طلاق واقع کیږي له دي څخه په علاوه کې مفت ،لکه چې ووایې خلع

وکړه ماسره بردي کوم چې زماپه لاس کې دي او حال داچې هيځ نشته دي په لاس کې ،اوکه ښځې اضافه کړيامن مال يامن دراهم نوښځه به واپس کوي ده ته ياخپل مهريادري درهمه .

تشريح :(۶)که په خلع کې عوض باطل شومثلا مسلمان کس له خپلې ښځې سره دشرابويا خنزير يامردارپه عوض کې خلع وکړي نودا فرقت به طلاق بائن وي ولي چې کله عوض باطل شونوپه دي صورت کې عمل کونکي دخلع لفظ دی اودخلع لفظ له کنايه الفاظوڅخه دی اوپه کنايه الفاظوسره طلاق بائن واقع کيږي لهذاپرښځه بائن طلاق واقع کيږي اوپرښځه به دخاوندلپاره هيڅ شئ دخلع دبدل پره ول واجب نه وي .

(۷)اوکه يې مدخول بهاښځې ته دمال په عوض کې غيرخلع يعنی طلاق ورکړ(اوداطلاق دريم طلاق نه وو)اوحال داچې عوض له مذکوره بالادريووجوه څخه په يوه وجه باطل وونوپرښځې طلاق رجعی مفت واقع کيږي يعنی خاوندلره به پرښځه هيڅ هم واجب نه وي ولی چې عوض باطل شونوپه دي صورت کې عمل کونکی صريح لفظ طلاق دی اوپه صريح لفظ طلاق سره رجعی طلاق واقع کيږي .

اوپه دواړومسئلوکې پرښځه هيڅ عوض په دي وجه واجب نه دی چې دعوض دواجبولودوه صورتونه دي يابه پرښځه مسمی واجبيږي اويابه غيرمسمی واجبيږي دواړه ممکن نه دي اول خوپه دي وجه چې مسلمان شراب وغيره نه چاته تسليمولی شې اونه يې له چاڅخه قبض کولی شې اوثاني په دي وجه چې ښځې دهغه التزام نه ده کړی .

(۸)قوله کخالعنی علی مافی يدی ای يکون مجانا کمافی قول المرأة لزوجهاخالعنی علی مافی يدی ،يعنی په مذکوره بالادواړو صورتونوکې خاوندلرپرښځه دهيڅ شئ نه واجبوالی داسې دی لکه چې ښځه خاوندته ووايې څه چې زماپه لاس کې دي پرهغه له ماسره خلع وکړه نوخاوندخلع وکړه اوحال داچې دښځې په لاس کې هيڅ نشته نوپرښځه هيڅ شئ نه واجبيږي ولي چې ښځې په خپل قول کې دمال ذکرنه ده کړی لهذاکله چې په لاس کې هيڅ نشته نوخاوندته دوکه ورکونکی شمارل کيږي نودکوم شئ ضامنه به هم نه وي .

(۹)اوکه ښځې په خپل قول کې دمن مال اضافه وکړه يعنی ښځې خپل خاوندته وويل چې زماپه لاس کې چې کوم مال دی پرهغه له ماسره خلع وکړه ،نوخاوندخلع وکړه مگردښځې په لاس کې هيڅ نه وو نوپه دي صورت کې به ښځه خاوندته مقدارمهرواپس کوي ولی چې ښځې په خپل قول کې دمال ذکرکړی دی په دي وجه خاوندبغيرعوض دملک نکاح په زائلولوراضی نه دی ،بياخاوندته دعوض ورکولوڅلورصورتونه دي ،(۱)مسمی (يعنی مافی يدها)،(۲)دهغه قيمت، (۳)دبضع قيمت يعنی مهرمثل ،(۴)مقدارمهرکوم چې ښځې له خاوندڅخه اخيستی دی .اولنې دري واړه احتماله باطل دي ولی چې مسمی اودهغه له قيمت څخه هريومجهول دی اودبضع قيمت يعنی مهرمثل په دي وجه نه شې واجب کيدلی چې دخروج په حالت کې دبضع هيڅ قيمت نشته لهذاڅلورم احتمال يعنی مقدارمهر واجبول متعين شوترڅوله خاوندڅخه ضرردفع شې ،اوکه ښځې دمن دراهم په اضافه کولوسره وويل له ماسره خلع وکړه په دي دراهموچې زماپه لاس کې دي ،اوخاوندخلع وکړه مگردښځې په لاس کې هيڅ نه وو نوپه دي صورت

کې پرښځه درې دراهمه واجب دي ولې چې ښځې دراهم دجمع په صيغه سره ذکرکړي دي اودجمع اقل فرد درې دي ځکه به درې دراهمه واجب وي ،قوله اوثلثة دراهم اى ردت عليه ثلثة دراهم في قولها خالعنى على مافى يدى من دراهم.

(۱۰) وَإِنْ خَالَعَ عَلَى عَبْدٍ آبِقٍ لَهَا عَلَى أَنَّهَا بَرِيئَةٌ مِنْ ضَمَانِهِ لَمْ تَبْرَأ (۱۱) قالت طَلِّقْنِي ثَلَاثًا بِأَلْفٍ فَطَلَّقَ وَاحِدَةً لَهُ ثُلُثُ الْأَلْفِ وَبَانَتْ (۱۲) وَفِي عَلَى أَلْفٍ وَقَعَ رَجْعِيٌّ مَجَّانًا (۱۳) طَلِّقِي نَفْسَكِ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ او عَلَى أَلْفٍ فَطَلَّقَتْ وَاحِدَةً لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ (۱۴) أَنْتِ طَالِقٌ بِأَلْفٍ او عَلَى أَلْفٍ فَقَبِلَتْ لَزِمَ وَبَانَتْ

ترجمه :اوكه خاوند خلع وكړه دښځې په تښتيدلى غلام په دې شرط چې ښځه برى ده دهغه له ضمان څخه نونه برى كيږي، ښځې وويل ماته درې طلاقه راكړه دزروپه عوض كې خاونديو طلاق وركړنو ده لره به دزروثلث وي اوښځه بائنه كيږي، اودعلى الف په صورت كې رجعى طلاق مفت واقع كيږي، (خاوند وويل) ته خپل ځان ته طلاق وركړه دزروپه عوض ياپرزرونودې يوطلاق وركړنو هيڅ نه واجبيږي، (خاوند وويل) ته طلاقه يې دزروپه عوض ياپرزرو ښځې قبول كړنو پرښځه زرلازميږي اوښځه بائنه كيږي.

تشريح :(۱۰) كه خاوند خلع وكړه له خپلې ښځې سره ددې په تښتيدلى غلام باندې په دې شرط چې ښځه به دهغه له ضمان څخه برى وي يعنى داسې ووايې چې دغلام دنيولو اوخاوندته له حواله كولو څخه زه برى يم نوهغه له ذمه دارى څخه نه برى كيږي ولې چې داعقدماوضه ده كوم چې دعوض دسلامتيا مقتضى دى نودښځې دبراءت شرط لګول شرط باطل دى ولې چې داشرط دموجب عقد څخه مخالف دى لهذا ښځه به برى نه وي ،بنفسه خلع دنكاح په شان په شروط فاسده سره نه فاسديږي.

(۱۱) كه ښځې خاوندته وويل ماته درې طلاقه راكړه دزرودرهموپه بدل كې راكړه ،مګرخاوند دې ته يوطلاق وركړنو پرښځې دزرودرهمويو ثلث(يعنى درې سوه دردېرش درهمه اويو دريوه درهم ثلث درهم) واجب وي ولې چې كله ښځې ديوزرپه بدله كې ددريو طلاقونو مطالبه وكړه نوګوياهرطلاق يې ديوزرى دثلث په عوض كې طلب كړولى چې لفظ باء پرعوض داخليږي اوعوض پرمعوض منقسميږي لهذازربه پرد ريوپه تقسيمولوسره ثلث زرلازم كيږي ،اوطلاق بائن واقع كيږي ولې چې داطلاق بعوض مال دى اوطلاق بعوض مال بائن وي.

(۱۲) قوله وفي على وقع رجعى اى في قول المرأة طلقنى ثلاثا على الف فطلقها واحدة ،يعنى كه ښځې دبالف پرځاى على الف ووايو اوخاونددې په ځواب كې دې ته ددريوپرځاى يوطلاق وركړنودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزديو رجعى طلاق واقع كيږي اوپرښځه هيڅ واجب نه دي ،دصاحبينو په نزددزروپه ديوثلث په بدله كې يوطلاق بائن واقع كيږي ولې چې طلاق على مال عقدمعاوضه ده اوپه معاوضاتو كې على دباء په حكم كې ده اودباء حكم په مخكنى مسئله كې تيرشو .دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادى چې كلمه على دشرط لپاره استعماليږي اومشروط دشرط په اجزاؤنه منقسميږي په خلاف دباء چې هغه په عوض داخليږي اوعوض پرمعوض منقسميږي ،نوكله چې دخاونديوه طلاق وركولوپه وجه دښځې پرذمه مال واجب نه شونودخاوندله طرفه وركړل شوى يوطلاق هغه طلاق نه دى دكوم چې ښځې مطالبه كړې وه بلكه داخاوندله طرفه نوى طلاق دى اوځرنګه چې خاوند طلاق په صريح لفظ سره وركړى دى اوپه صريح لفظ سره د طلاق وركولوپه صورت كې رجعى طلاق واقع كيږي په دې وجه به داطلاق رجعى وي.

ف: دامام ابو حنیفه رحمه الله قول راجح دی لماقال المفتی غلام قادر النعمانی: القول الراجح هو قول ابی حنیفه رحمه الله الی ان قال لکن عرف زماننا يؤيد قول الصاحبين لان العوام لايميزون بين على وباء في محاورالهم وخصوصا الافغانيون (القول الراجح: ۱/۳۳۵)

(۱۳) قوله طلقی نفسک ثلاثا بالف الخ ای لو قال الزوج لامرأته طلقی نفسک ثلاثا بالف الخ ،یعنی که خاوند خپلې ښځې ته وویل طلقی نفسک ثلاثابالف (ته خپل ځان دزرورو پوپه عوض کې طلاق ورکړه) یایې وویل طلقی نفسک ثلاثاعلی الف (ته خپل ځان ته په زرورو پوطلا ق ورکړه) نو ښځې پرخپل ځان یو طلا ق واقع کړنو هیڅ نه واقع کیږي ولی چې خاوند دخپلې ښځې په بینونت راضی نه دی مګرداچې خاوندته پوره یوزرو سپارل شوې نو که موږ دزرورو پو دثلث په عوض کې دیوه طلا ق دوقوع حکم وکړنودا دخاوند په حق کې مضردی.

(۱۴) قوله انت طالق بالف اوعلی الف الخ ای لو قال الزوج لامرأته انت طالق بالف اوعلی الف الخ ،یعنی که خاوند خپلې ښځې ته وویل انت طالق بالف اوعلی الف (ته دزرورو پوپه بدله کې طلاقه یې یایې وویل ته پویوزر روپو طلاقه یې) ښځې دا قبول کړنو یوزرروپۍ لازمیږي ولی چې ښځې په خپله زرروپۍ ورکول قبول کړي دي او ښځه بائنه ګرځي ولی چې دا طلاق بعوض مال دی او طلاق بعوض مال بائن وي.

(۱۵) اَنتِ طَالِقٌ وَعَلَيكِ أَلفٌ أو أنتَ حرٌ وَعَلَيكَ أَلفٌ طَلُقَتْ وَعَتَقَ مَجَانًا (۱۶) وَصَحَّ خِيَارُ الشَّرطِ لَهَا في الخُلعِ لَالَه (۱۷) طَلَّقتُكِ أَمسِ بِأَلفٍ فَلَم تَقبَلِي فقالت قَبِلتُ صُدِّقَ (۱۸) بِخِلَافِ البَيعِ

ترجمه: (که خاوند وویل) ته طلاقه یې او پرتازرروپۍ دي یاته ازاده یې او پرتازرروپۍ دي نو دا طلاقیږي او غلام ازادیږي مفت، او صحیح دی شرط خیار ښځې لره په خلع کې نه خاوندلره، (او که خاوند وویل) ماتاته طلاق درکړی دی دتېول زری په بدل کې او تاقبول کړی دی او ښځې وویل ماقبول کړي دی نو دخاوند تصدیق به کیږي، په خلاف دبیع.

تشریح: (۱۵) که چاخپلې ښځې ته وویل انت طالق وعلیک الف (ته طلاقه یې او پرتازرروپۍ دي) نو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزدیو طلاق مفت واقع کیږي او دصاحبینو په نزد پرښځه زرروپۍ لازمې دي ولی چې داکلام علیک الف دمعاوضه لپاره استعمالیږي نو څرنګه چې خلع عقد معاوضه ده لهذا وعلیک الف کې واو دباء په معنی دی نو ګویا خاوند ښځې ته وویل چې انت طالق بالف (ته طلاقه یې دزروپه عوض کې)، دامام ابو حنیفه رحمه الله دلیل دادی چې وعلیک الف مستقله جمله ده او مستقله جمله بلادلیله له ماقبل سره مربوطه نه وي او دلته له ماقبل سره په مربوط والی باندې هیڅ دلیل نشته ولی چې په عام ډول سره طلاق له مال څخه بغیروي لهذا صرف انت طالق واقع شوا و انت طالق هم مفت واقع شو، همداشان که چاخپل غلام ته وویل انت حر وعلیک الف (ته ازادیې او پرتازرروپۍ دي) نو دامام امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد غلام مفت ازادیږي لمامر، او دصاحبینو په نزد پرغلام زرروپۍ دي لمامر.

ف: دصاحبینو پرقول فتوی ده لمافی الدر المختار: (وانت طالق وعلیک الف او انت حر وعلیک الف طلقت وعتق مجانا) الی ان قال وفی الحاوی وبقولهما یفتی (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۲/۶۱۱)

(۱۶) او په خلع کې ښځې لره دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد خیار شرط صحیح دی خاوندلره نه دي صحیح مثلاً په زرروپۍ یې خلع وکړه او داشرط یې ولګاوو چې تردریوورځوپوري ښځې لره دقبلولو

یاردولوا ختیاردی نوداصحیح دی ولی چې دښځې له طرفه خلع تملیک المال دی اوتملیک المال دبیع په شان خیارشرط قبلوي ، لهذاکه ښځې په ایام خیارکې خلع ردکړه نوطلاق نه واقع کیږي اوکه یې قبول کړه نوطلاق واقع کیږي ،او دخاوندپه حق کې ځکه چې خلع یمین دی لهذاخیارشرط نه قبلوي . دصاحبینوپه نزدځکه چې خاوندلره خیارشرط صحیح نه دی همداشان ښځې لره هم صحیح نه دی ولی چې دصاحبینوپه نزدخلع ددواړولپاره یمین دی.

(۱۷)قوله وطلقتک امس بالف الخ ای لوقال الزوج لامرأته طلقتک امس بالف الخ ،یعنی که خاوند خپلې ښځې ته وویل طلقتک امس بالف فلم تقبلی (ماتاته پرون دزرورو پوپه بدل کې طلاق درکړ مګرتاقبول نه کړ)ښځې په ځواب کې وویل ماقبول کړی وونوپه دې صورت کې به دخاوندقول تصدیق کیږي ولی چې طلاق بالمال دزوج له طرفه یمین دی اودښځې قبلول دحانث کیدلولپاره شرط دی نودخاوندقول به معتبروي ولی چې هغه له وجودشرط څخه منکردی اوقول دمنکرمعتبروي .

(۱۸)په خلاف دبیع مثلاکوم چابل ته وویل چې مادغلام دزرورو پوپه عوض پرون پرتاخرڅ کړی وو مګرتانه وقبول کړی هغه وویل ماقبول کړی وو نوله قبولیت څخه په انکارکې به دبائع دقول اعتبارنه کیږي ولی چې اقراربالبیع اقراربالقبول دی ولی چې بیع بغیرقبول نه تامیږي نواوس دبائع له قبول بیع څخه انکارکول له بیع څخه رجوع کول دي لهذادده دقول اعتباربه نه کیږي .

(۱۹)وَيَسْقُطُ الْخُلْعُ وَالْمُبَارَأَةُ كُلَّ حَقٍّ لِكُلٍّ وَاحِدٍ عَلَى الْآخَرِ مِمَّا يَتَعَلَّقُ بِالنِّكَاحِ (۲۰)حتی لو خالعها او بارأها بمال معلوم كان للزوج ما سمى له ولم يبق لأحدهما قبل صاحبه دعوى في المهر مقبوضا كان او غير مقبوض قبل الدخول بها او بعده (۲۱)وان خلع صغيرته بمالها لم يجز عليها (۲۲)ولو بألف على أنه ضامن طلقت والألف عليه

ترجمه :اوساقطوي خلع اومبارأة دزوجینوهرهغه حق کوم چې دیوه پرهغه بل باندي وي کوم چې متعلق وي له نکاح سره ،تردې چې که خاوندله ښځې سره خلع یامبارأت وکړ دمعلوم مال په عوض نوخاوندلره به هغه وي کوم چې ښځې دهغه لپاره مقررکړی دی اوباقی نه پاتې کیږي یوه لره پربل دمهردعوی اختیارخواه که مهرمقبوض وي یاغیرمقبوض له دخول څخه وړاندي وي یاوروسته ،اوکه یې خلع وکړه دخپلې نابالغې ددي دمال په عوض کې نوجائزنه ده پرنابالغې باندي اوطلاق واقع کیږي ،اوکه دزروپه عوض په دې شرط چې دی ضامن دی نوهغه طلاقیږي اوروپۍ پرولی لازمیږي .

تشریح :(۱۹)یعنی په خلع اومبارأة (مبارأة دادی چې زوج خپلې ښځې ته ووایې چې زه دزرودراهموپه عوض ستاله نکاح څخه بری یم)کې هریوله زوجینوڅخه هغه بل له هرهغه حق چې له نکاح سره متعلق وي بری کوي مثلامهراونفقه ماضیه وغیره ،دادامام ابوحنیفه رحمه الله مسلک دی ،دامام محمد رحمه الله مسلک دادی چې هرهغه حق چې زوجین یې بیان کړي ساقطیږي له دې څخه علاوه نه ساقطیږي .امام ابویوسف رحمه الله په خلع کې له امام محمد رحمه الله سره دی اوپه مبارأت کې له امام ابوحنیفه رحمه الله سره دی.

ددې اختلاف ثمره په دې مثال سره واضح کیږي چې که دښځې مهرزردرهمه وي بیاښځې له خپل خاوندسره قبل الدخول له خپل مهرڅخه په سل درهمه خلع وکړه نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدښځې لره جائزنه ده چې هغه په خپل خاوندڅه شئ رجوع وکړي ،دصاحبینوپه نزدبه ښځه په خپل خاوند

وڅلورسووردرهمولپاره رجوع كوي ترڅودفرقت قبل الدخول په وجه سره ښځې لره نصف مهرورسيږي اوصرف دومره ساقطيږي څومره چې دواړوبيان كړى دى يعني سل درهمه ،اوكه ښځې په زروقبضه وكړه بيايې په سل درهمه خلع وكړه نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدخاوندلره له سل درهمه ماسواهيڅ نشته،دصاحبينوپه نزدبه خاوندپه ښځه ددومره مقدارپه حق كې رجوع كوي چې دنصف مهرمقدارخاوندته ورسيږي (يعني څلورسوه درهمه به له ښځې څخه زيات اخلي)اوكه په مذكوره بالاصورتونو كې زوجينومبارأت وكړنوهم دامام ابوحنيفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په اختلاف هم هغه دى كوم چې پورته ذكرشومگرامام ابويوسف رحمه الله په مبارأت كې له امام ابوحنيفه رحمه الله سره دى .

(٢٠)داپرماقبل مسئله تفريع ده چې په خلع اومبارات كې له زوجينوڅخه هريوهغه بل له هرهغه حق څخه كوم چې له نكاح سره متعلق وي برى كوي حتى كه خاوندله خپلې ښځې سره دمال په يومعين مقدارخلع وكړه نوخاوندته به صرف هغه وركول كيږي كوم چې ښځې دده لپاره په دې معامله كې مقرركړى دى له دې څخه علاوه په زوجينوكې به كوم يوه لره پرهغه بل دمهروغيره په باره كې هيڅ دعوى پاتې نه شې خواه كه ښځې پرمهرقبضه كړي وي اوكه يې نه وي كړي اوخواه كه دامعامله له صحبت كولوڅخه وړاندي وي ياوروسته شوي وي ،مصنف رحمه الله دمال معلوم دقيدپه لگولوسره له مال مجهول څخه احتراز وكړولى چې عوض خلع كه داسې مال وي چې په جهالت فاحشه سره مجهول وي نوداعوض به صحيح نه وي بلكه ښځې چې پرڅومره مهرباندي قبضه كړي وي هغه به واپس كوي .

(٢١)كه چادخپلې نابالغې لوردمال په بدله كې ددې له خاوندسره خلع وكړه نوداپرانجلۍ نه لازميږي يعني پرانجلۍ مقررمال نه لازميږي ولى چې دنابالغې انجلۍ په مال خلع كول ددې په مال دتبرع كولوپه شان دى كوم چې جائزنه ده لهذانه نافذيږي .اوپه خلع كولوسره پرنابالغه انجلۍ طلاق واقع كيږي ولى چې پرنابالغه دمال دنه واجبيدلوڅخه دانه لازميږي چې طلاق به هم واقع نه وي ، همداوجه ده چې دخلع بعوض خمركې طلاق واقع كيږي مگرواجب نه دي .

(٢٢)قوله ولوبالف على انه ضامن الخ اى لوخالعهاالاب بالف درهم على انه ضامن الخ ،يعنى كه چادخپلې نابالغې انجلۍ په زرورپيوخلع وكړه پردې شرط چې ددې زرورپيوزه ضامن يم نوپرصغيره طلاق واقع كيږي لمامر،اودايوزرروپۍ ددې دولي پرذمه واجبيږي ولى چې دبدل خلع شرط په كوم اجنبى باندې هم صحيح دى نوپرپلارخوبه په طريقه اولى سره صحيح وي .

باب الظهار

داباب دظهارپه بيان كې دى

ظهارلغة مصدردى هغه وخت ويل كيږي كله چې كوم كس خپلې ښځې ته داووايي چې ته پرماداسې يې لكه زمادمورشا ، اوشرعاًدمنكوحه ښځې له كومې داسې ښځې سره تشبيه وركولوته ويل كيږي كومه چې

پرده دهیمشه لپاره حرامه وي لکه مور، خور، خاله او عمه وغیره او خواه دا حرمت ابدی نسبی وي یا رضاعی وي یا بوجه مصاهرت وي.

دباب الظهار له خلع سره مناسبت دادی چې دظهار او خلع کې دهریوه وجه ظاهرا نشوز او دنفرت اظهار وي بیایې خلع په ظهار په دي وجه مقدم کړی دی چې په خلع کې تحریم زیات دی ولی چې دخلع په صورت کې دنکاح په منقطع کیدلوسره تحریم ثابتیږي، او په ظهار کې دنکاح د باقی پاتې کیدلو باوجود حرمت ثابتیږي.

دظهار لپاره شرط دادی چې مشبه ښځه به په نکاح صحیح سره منکوحه وي نوله ام ولد، مدبره، قنه او مبانه څخه ظهار صحیح نه دی. او دظهار اهل هغه کس دی کوم چې دکفاري اهل وي نو دذمی، مجنون او صبی ظهار صحیح نه دی.

(۱) هو تشبیه المنکوحة بمحرم عليه على التأبيد (۲) حرم عليه الوطء ودواعيه بأنت علي كظهر أمي حتى يكفر (۳) فلو وطئ قبله استغفر ربه فقط (۵) وبطنها وفخذها وفرجها كظهرها (۲) وأخته وعمته وأمه رضاعا كأمه

ترجمه: ظهار تشبیه ورکول دي دخپلي منکوحه له داسې ښځې سره کومه چې حرامه وي پرده دهیمشه لپاره، حرامیږي په خاوند وطی او دواعی وطی دخاوند په دي وینا سره چې ته پرما زما دمور دشا په شان یې ترڅو چې کفاره ورکړي، نو که یې وطی وکړه له کفاري څخه وړاندي نو استغفار دي وکړي له خپل رب څخه، او دخاوند دي ته له عود څخه مراد دادی چې عزم وکړي له دي سره دوطی کولو، او دښځې نس او ددی ورون او شرمگاه ددي شا په حکم کې دي، دخاوند خور، عمه او رضاعی مور دحقیقي مور په شان دي.

تشریح: (۱) مصنف رحمه الله دظهار شرعی تعریف بیان کړی دی چې دخپلې منکوحې له داسې ښځې سره تشبیه ورکولو ته ظهار ویل کیږي کومه چې پرده دهیمشه لپاره حرامه وي لکه مور، خور، لور وغیره. په تشبیه المنکوحه کې اضافت له قبیلې داضافة المصدر الی المفعول دی ای تشبیه الزوج منکوحته.

(۲) که چاله خپلې ښځې څخه ظهار وکړ مثلا خاوند وویل انت علی کظهر امی (ته پرما زما دمور دشا په شان یې) نو دده ښځه پرده حرامه شوه او س دي کس لره نه له دي سره وطی کول حلال دي او نه مس کول او نه مچه اخیستل حلال دي، او ښځې لره هم خاوند ته پرخپل ځان قدرت ورکول حرام دي، ترڅو چې خاوند دخپل ظهار کفاره ورکړي ولی چې ظهار جنایت دی ولی چې ظهار کول ناخوښه او دروا غ خبره ده نو په دي سره دي کس ته سزاء ورکول مناسب ده چې دده ښځه پرده حرامه کړای شې ترهغه وخت پوري چې کفاره اداء کړي او دا جرم په کفاره سره ختمیږي.

(۳) که مظاهر (ظهار کوونکی) له ظهار څخه وروسته له کفاري ورکولو وړاندي له خپلې دي ښځې سره وطی وکړه نو داکس دي استغفار وکړي او پرده دکفاره اولی ماسوا څه نور شئ نه واجبیږي، او اوس دي وطی نه کوي ترڅو چې کفاره ورکړي ولی چې نبی کریم ﷺ یو داسې کس ته چاچې دظهار له کفاري څخه و ... ې وطی کړی وه فرمایلي وو ﴿ استغفر ربك ولا تعد حتى تكفر ﴾ (یعنی له خپل رب څخه مغفرت طلب کړه او دا حرکت بیامه کوه ترڅو چې کفاره ورکړي) نو که له استغفار څخه ماسوا کوم بل شئ واجب وای نو نبی کریم ﷺ به ضرور په هغه تنبیه ورکوله.

(۴)پرمظاهرکفاره هغه وخت واجبیږي کله چې هغه له ظهارڅخه په راګرځیدلوله دي ښځې سره دوطی کولوعزم وکړي اوکه ظهارکونکی دمظاهرعنهاپه حرمت راضي وي له دي سره دوطی کولوعزم نه لري نوپرمظاهرکفاره واجب نه ده ،نوپه ایت مبارکه﴿ وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا ﴾(اوکوم خلک چې له خپلوښځوڅخه ظهارکوي بیادخپلې ویلې شوي خبري تلافی کول غواړي نوددوئ پرذمه دیوه غلام یامینځې ازادول دي)کې له عودڅخه مراددمظاهرله مظاهرمنهاسره دوطی کولوعزم دی .

(۵)دښځې نس اوددي ورون اوشرمګاه ددي دشاپه حکم کې ده یعنی که چاخپلې ښځې ته وویل انت علی کبطن امی یاکفخذامی یاکفرج امی (یعنی ته پرمازمادمورد نس په شان یې یاددي ورون یاددي دفرج په شان یې)نوداداسې دی لکه خاوندچې خپلې ښځې ته ووایې انت علی کظهرامی (ترپرماداسې یې لکه زمادمورشا)نوپه دي ټولوصورتونوکې داکس مظاهرګرځي ولی چې ظهاروبل کیږي دخپلې ښځې له محرمه ابدیه سره تشبیه ورکولوته اودامعنی په مذکور اعضاؤکې اوله هرهغه عضوسره په تشبیه ورکولوکې متحققه کیږی دکوم طرف ته چې کتل ناجائزوي .

(۶)دخاوندخور،عمه اورضاعی موردحقیقي مورپه شان ده یعنی که چادخپلې ښځې له خپلومحارموڅخه له داسې ښځې سره تشبیه ورکړه کوموته چې پرده په شهوت سره کتل دهیمشه لپاره حرام وي مثلاخور،عمه ،رضاعی موروغیره نوداکس مظاهرګرځي ولی چې دابښځې به دائمي تحریم کې دمورپه څیردي .

(۷)وَرَأْسِكِ وَفَرْجِكِ وَظَهْرِكِ وَوَجْهِكِ وَرَقَبَتِكِ (۸)وَنِصْفِكِ وَثُلُثِكِ كَأَنْتِ (۹)وَإِنْ نَوَى بِأَنْتِ عَلَيَّ مِثْلُ أُمِّي بِرًّا أَوْ ظِهَارًا أَوْ طَلَاقًا فَكَمَا نَوَى، وَإِلَّا لَغَا (۱۰)وَبِأَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ كَأُمِّي ظِهَارًا أَوْ طَلَاقًا فَكَمَا نَوَى (۱۱)وَبِأَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ كَظَهْرِ أُمِّي طَلَاقًا أَوْ إِيلَاءً فَظِهَارٌ

ترجمه :اودخاونددا وینا چې ستاسرا وستاشرمګاه اوستامخ اوستاغاړه ،اوستانصف اوستاثلث داسې دی لکه چې څوک انتِ ووایې ،اوکه یې په انت علی مثل امی سره دښه سلوک یاظهاریاطلاق نیت وکړنو دنیت مطابق به وي که نه نو لغوه دی، اوکه یې په انت علی حرام کامی سره دظهاریاطلاق نیت وکړنوهم به دنیت مطابق وي ،اوکه یې په انت علی حرام کظهرامی سره دطلاق یاظهارنیت وکړنوظهاربه وي .

تشریح :(۷)قوله وراسک وفرجک ای لوقال لامراته راسک علی کظهرامی الخ ،یعنی که چاخپلې ښځې ته وویل راسک علی کظهرامی(یعنی ستاسرپرمازمادمورد شاپه څیردی)یایې وویل فرجک علی کظهرامی (ستافرج پرمازمادمورپه شان دی) یایې وویل(وجهک علی کظهرامی)ستامخ پرمازمادموردشاپه شان دی)یایې وویل رقبتک علی کظهرامی (ستاغاړه پرما زمادموردشاپه شان ده)نوداټول صورتونه داسې دي لکه چې څوک خپلې ښځې ته ووایې انت علی کظهرامی (ته پرما داسې یې لکه زمادمورشا)لهذاپه مذکوره ټولو صورتونوکې داکس مظاهرګرځي ولی چې په دي ټولواعضاء کې په هرعضوسره له ټول بدن څخه تعبیر کیږي لهذادښځې ددي اعضاؤله خپلې مورسره تشبیه ورکول دټولې ښځې دتشبیه ورکولوپه شان دی.

(۸)همداشان کې یې وویل نصفک علی کظهرامی (یعنی ستانصف پرمازمادموردشاپه شان دی) یایې وویل ثلثک علی کظهرامی(ستاثلث پرمازمادموردشاپه شان دي)نوداهم دانت علی کظهرامی په شان دي

لهذا داسې وېناكونكې هم مظاهر شمارل كيږي ولې چې دظهار حكم اول په جزء شائع كې ثابتيږي بيا د ټول بدن طرف ته سرايت كوي.

(۹) كه چا خپلې ښځې ته وويل انت على كامي باالت على مثل امي (يعنى ته پر ما زما د مور په شان يې) نو د دې كس د نيت پوښتنه به كيږي ترڅو دده حكم ظاهر شي نو كه ده وويل چې زما اراده داوه چې ته په اعزاز او اكرام په مستحق والى كې زما په نزد زما د مور په شان يې نو دا هم داسې ده يعنى په پردې كس هيڅ نه واجبيږي ولې چې په تشبيه سره دتعظيم عام رواج دى ،اوكه ده وويل چې ما دظهار اراده كړې وه نو دا ظهار كيږي ولې چې له ټولې مور سره په تشبيه وركولو كې له يوه عضو سره تشبيه وركول موجود دى مګر صريح نيت نشته لهذا د نيت محتاج به وي.

(۱۰) اوكه يې وويل چې ما د طلاق اراده كړې وه نو طلاق بائن واقع كيږي ولې چې په دې كلام كې د ښځې له مور سره په حرمت كې تشبيه وركړې ده نو داداسې ده لكه چې خاوند خپلې ښځې ته وويل انت على حرام (ته پر ما حرامه يې) او د طلاق نيت يې كړى وي ،او وړاندې تير شو چې انت طالق له الفاظ كنايه څخه دى او په كنايه لفظ سره طلاق بائن واقع كيږي ،اوكه دې كس په دې كلام سره هيڅ نيت نه وو كړى نو دا كلام د شيخينو په نزد لغوه دى ولې چې دا كلام پر تعظيم حمل كيداى شي. دامام محمد رحمه الله په نزد دا كلام د عدم نيت په صورت كې ظهار دى.

ف: دشيخينو قول راجح دى لمافي الدر المختار: (وان نوى بانت على مثل امى)............صحت نيته (والا) ينو شيئا او حذف الكاف (لغو) وتعين الادنى اى البر يعنى الكرامة (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۲/۲۲۶)

(۱۱) قوله انت على حرام كامي ظهار اى لو نوى بقوله انت على حرام كامي ظهارا الخ ،يعنى كه چا خپلې ښځې ته وويل انت على حرام كامي (ته پر ما حرامه يې زما د مور په شان) او په دې وېنا سره يې دظهار نيت وكړ نو ظهار به وي ولې چې ده دخپلې ښځې په حرمت كې له مور سره تشبيه وركړه كه ده صرف دخپلې مورله شا سره تشبيه وركړې واى نو ظهار به واى نو كله چې ده له كل مور سره تشبيه وركړه نو په طريقه اولى سره به ظهار وي .اوكه ده د طلاق نيت كړى وو نو طلاق واقع كيږي ولې چې (انت على حرام) له كنايا تو څخه دى او لفظ دكامي د دې حرمت دتاكيد لپاره دى لهذا بينت طلاق په دې قول سره طلاق واقع كيږي.

(۱۲) اوكه چا خپلې ښځې ته وويل انت على حرام كظهر امى (ته پر ما زما د مور د شا په شان حرامه يې) او په دې وېنا سره يې د طلاق يا يا ايلاء نيت وكړ نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به ظهار وي. دصاحبينو په نزد چې ده كوم نيت كړى وي هغه به وي يعنى كه يې دظهار نيت كړي وي ظهار به وي او كه يې د طلاق نيت كړي وي نو طلاق به وي او كه يې دايلاء نيت كړي وي نو ايلاء به وي او كه يې هيڅ نيت نه وو كړى نو هم به ظهار وي ولې چې دتحريم لفظ د دې ټولو احتمال لري .دامام ابو حنيفه رحمه الله دليل دادى چې لفظ دظهر امى په ظهار كې صريح دى لهذا دغير احتمال نه لري بيا ظهار محكم دى او تحريم محتمل دى لهذا محتمل به د محكم طرف ته رديږي.

ف: دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دى لمافي الدر المختار: (وبانت على) حرام (كظهر امى ثبت الظهار لاغير) لانه صريح قال ابن عابدين: (قوله لانه صريح) لان فيه التصريح بالظهر فكان مظاهرا سواء نوى الطلاق او الايلاء اولم تكن له نية (الدر المختار مع الشامية: ۲/۲۲۷)

(۱۲) وَلَا ظِهَارَ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِهِ (۱۳) فَلَوْ نَكَحَ امْرَأَةً بِغَيْرِ أَمْرِهَا فَظَاهَرَ مِنْهَا فَأَجَازَتْهُ بَطَلَ (۱۴) أَنْتُنَّ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي ظِهَارٌ مِنْهُنَّ (۱۵) وَكَفَّرَ لِكُلٍّ

ترجمه: او ظهار نه کیږي مګر له خپلې ښځې څخه، نو که چاله کومې ښځې سره نکاح وکړه ددې له امر څخه بغیر بیایې ظهار وکړله دې څخه بیا ښځې د نکاح اجازت ورکړنو ظهار باطلیږي، تاسې ټولې پر ما زما د مور د شا په څیر یاست نو دا د ټولو ښځو په حق کې ظهار دی او د هر یوه لپاره به جلا جلا کفاره ورکوي.

تشریح: (۱۲) یعني ظهار له ښځې څخه ماسوا له کومې بلې ښځې څخه نه کیږي حتی که چاله خپلې مینځې څخه ظهار وکړنو دا کس به مظاهر نه وي ولې چې ایت کریمه ﴿وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ﴾ (یعنی کوم خلک چې له تاسې څخه ظهار کوي له خپلو ښځو څخه) کې له النساء څخه مراد زوجات دي او مملوکه مینځه زوجه نه ګڼل کیږي.

(۱۳) دا پر ما قبل تفریع ده یعني که چاله کومې اجنبي ښځې سره ددې له اجازت څخه بغیر نکاح وکړه بیایې ددې له اجازې څخه وړاندې له دې څخه ظهار وکړ وروسته له ظهار کولو دې ښځې د نکاح اجازت ورکړنو له اجازت څخه وړاندې چې دې کس کوم ظهار کړی دی هغه باطل دی ولې چې د ظهار تر وخت پورې ځکه چې دې ښځې اجازت نه وو ورکړی نو نکاح نه وه شوي د ظهار پر وخت دا ښځه اجنبیه وه او له اجنبیه ښځې څخه ظهار نه کیږي کما مر.

(۱۴) قوله انتن علی کظهر امی ظهار منهن ای لو قال الزوج لزوجاته انتن علی کظهر امی ظهار منهن، یعني که چا خپلو متعدد و ښځو ته داسې وویل انتن علی کظهر امی (یعنی تاسې پر ما زما د مور د شا په شان یاست) نو دا کس له دې ټولو څخه ظهار کونکی دی ولې چې ده د ټولو طرف ته ظهار منسوب کړی دی لهذا له ټولو څخه به ظهار ثابتیږي لکه چې دا کس د خپلو ټولو ښځو طرف ته په طلاق منسوبولو سره ویلې وای انتن طوالق (تاسې طلاقې یاست) نو پر ټولو طلاق واقع کیدو.

(۱۵) قوله و کفر لکل ای و کفر المظاهر المذکور لکل واحدة منهن، یعني پر مذکوره بالا مظاهر د هر یوه لپاره کفاره واجب ده ولې چې د ظهار په وجه سره د هرې یوې ښځې په حق کې حرمت ثابتیږي او کفاره ددې لپاره وي ترڅو چې د ظهار په وجه سره ثابت شوی حرمت ختم کړي لهذا څو مره حرمتونه چې وي هغو مره به کفارې وي.

فَصْلٌ فِي الْكَفَّارَةِ

دا فصل د کفاره په بیان کې دی

مصنف رحمه الله له دې څخه وړاندې د ظهار حکم یعنی حرمت وطی و دواعی وطی بیان کړ او س په دې فصل کې هغه شئ بیانوي چې په هغه سره مذکوره حرمت ختمیږي یعنی د ظهار کفاره.

(۱۶) وَهُوَ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ (۱۷) وَلَمْ يُجْزِ الْأَعْمَى، وَمَقْطُوعُ الْيَدَيْنِ (۱۸) وَإِبْهَامَيْهِمَا أَوِ الرِّجْلَيْنِ، (۱۹) وَالْمَجْنُونُ (۲۰) وَالْمُدَبَّرُ وَأُمُّ الْوَلَدِ وَالْمُكَاتَبُ الَّذِي أَدَّى شَيْئًا (۲۱) فَإِنْ لَمْ يُؤَدِّ شَيْئًا (۲۲) أَوِ اشْتَرَى قَرِيبَهُ نَاوِيًا بِالشِّرَاءِ الْكَفَّارَةَ (۲۳) أَوْ حَرَّرَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ ثُمَّ حَرَّرَ بَاقِيَهُ عَنْهَا صَحَّ

ترجمه: او کفاره د غلام ازدول دي، او په کفاره کې جائز نه دی ړوند او مقطوع الیدین، یا د واړه بټې ګوتې پرې شوی یا مقطوع الرجلین، او مجنون، او مدبر او ام ولد او داسې مکاتب کوم چې څه اداء کړي وي، او که

يې څه نه وي اداء کړي ،يايې واخيستې خپل قريب اوپه شراء سره يې دکفاري نيت وکړ ،اويايې ازاد يې کړنيم غلام له خپلي کفاري څخه بيايې باقي نصف هم دکفاري له طرف څخه ازاد کړنوصحيح دی.

تشريح :(۱۶)دظهارکفاره داده چې مظاهردکفاره په نيت سره غلام ازادکړي لقوله تعالی﴿ وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِن قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا ذَلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾(يعنی کوم خلک چې له خپلوښځوڅخه ظهارکوي بيادخپلې ويلې شوي خبري تلافی کول غواړي نوددوئ پرذمه يوغلام يامينځه ازادول دي قبل تردي چې دواړه خاوندا وښځه اختلاط سره وکړي په دي سره تاسې ته نصيحت کول کيږي الله تعالی ستاسې په ټولواعمالوخبردي)، بياخواه که غلام مسلمان وي اوکه کافروي ، مذکروي اوکه مؤنث وي ،بالغ وي اوکه نابالغ وي .دامام شافعی رحمه الله په نزددکافرغلام ازادول کافی نه دي ولی چې کفاره دالله تعالی حق دی نوداد الله تعالی دشمن يعنی دکافرطرف ته صرف کول جائزنه ده لکه کافرته چې زکوة ورکول جائزنه ده .احناف ځواب ورکوي چې په قران مجيدکې مطلق رقبه ذکرده کومه چې کافراومسلمان دواړوته شامله ده لهذادکافرازادول هم کافی دی.

(۱۷)قاعده داده چې په غلام کې هرهغه عيب چې په هغه سره جنس منفعت فوت وي مانع جوازدی اوصرف په کوم عضوکې خلل راتلل مانع نه دی نوپه کفاره ظهارکې دړانده غلام ازادول جائزنه دی همداشان دمقطوع اليدين اومقطوع الرجلين غلام ازادول هم جائزنه دی ولی چې په دي عيبونوسره دده جنس منفعت فوت کيږي نوداحکماهلاک شوی دی.

(۱۸)قوله اوابهاميهما ای لم يجزتحريرمقطوع ابهامي اليدين ،يعنی که دکوم غلام دلاسونودواړه بټې ګوتې پرې شوي وي نوپه کفاره ظهارکې دهغه ازادول جائزنه دی ولی چې دبټوګوتوپه پرې کيدلوسره دنيولوقوت باقی نه پاتې کيږي دکوم په وجه سره چې جنس منفعت فوتيږي اودکوم چې جنس منفعت فوت وي دهغه ازادول جائزنه دی ،همداشان که دکوم غلام دواړه پښې پرې وي نودجنس منفعت دختميدلوپه وجه ددې ازادول هم جائزنه دي.

(۱۹)قوله والمجنون ای لم يجزتحريرالمجنون الذي لايعقل ،يعنی دهغه مجنون غلام چې دهغه عقل بالکل نه وي ازادول په کفاره کې جائزنه دی ولی چې له اعضاؤڅخه فايده اخيستل بغيرله عقله ممکن نه دی لهذادا هم فائت المنفعت شوځکه نودده ازادول هم جائزنه دی ،البته که کله ليونتوب اوکله افاقه ورباندي راتله نوپه حالت افاقه کې يې ازادول جائزدی ولی چې دافائت المنفعت نه بلکه مختل المنفعت دی اواختلال مانع نه دی.

(۲۰)قوله والمدبروام الولدای لايجوزتحريرالمدبروام الولد ،يعنی په کفاره ظهارکې دمدبراوام الولد ازادول جائزنه دي ولی چې مدبردتدبيرپه وجه اوام الولدداستيلادپه وجه مستحق دحريت دي نوپه دوئ کې رقيت ناقص دی ځکه نودوئ په کفاره کې ازادول جائزنه دي .همداشان دهغه مکاتب ازادول هم جائزنه دی کوم چې څه مال دبدل کتابت په دول اداء کړی وي اوځان عاجزکړی نه وي ولی چې دبدل کتابت په اداء کولوسره دي ازاديږي اوبدل دقربت اوعبادت معنی باطلوي ځکه نودی په کفاره کې ازادول جائزنه دی.

(۲۱)قوله فان لم يؤدشيا.........صح اى لواعتق رجل لكفارته مكاتبالم يؤدشيامن مال الكتابة جاز،يعنى كه مظاهرداسې مكاتب ازادكړكوم چې تراوسه پورې څه مال كتابت نه وي اداء كړى ولى چې مكاتب له كتابت څخه وړاندې رقيق دى اودكتابت په وجه دده رقيت نه زائليږي ولى چې شئ په خپل منافى سره زائليږي اوكتابت له رقيت سره منافى نه دى ځكه چې عقدكتابت دهغه بند دليرې كولونوم دى كوم چې پرغلام درقيق والى په وجه سره ووااودبندله ليرې كولوسره سره غلام بياهم رقيق پاتې كيږي لكه مولى چې خپل غلام ته دتجارت داجازت په وركولوسره بندختم كړي نودده رقيت نه ختميږي .

(۲۲)كه مظاهردظهاردكفاري په نيت سره خپل قريب مثلاً پلاريازوى واخيستى نوكفاره اداءكيږي ولى چې دعتق علت شراء ده﴿لقوله ﷺ لَن يَجزِيَ وَلَدٌ وَالِدَهُ إِلَّا أَن يَجِدَهُ مَملُوكًا فَيَشتَرِيَهُ فَيُعتِقَهُ﴾ (زوى دپلارداحسان بدله نه شي وركولى مگرداچې څوک خپل پلارمملوک ومونډي زوى هغه واخلي اوبياېې ازادكړي)حديث شريف كې فاء دتعقيب لپاره ده لهذادعتق سبب شراء ده .

(۲۳)كه مظاهرخپل نصف غلام په كفاره كې ازادكړبيايې باقى غلام هم په كفاره كې ازادكړ نوداجائزدى ولى چې مظاهرپه دوه ځله كلام كولوسره كامل غلام ازادكړى دى نوكوم نقصان چې په نصف اخركې واقع شوى دى هغه دده په ملک په پاتې كيدلوسره په كفاره كې دازادولوپه وجه پيداشوى دى په دې دول نقصان له اداء كفاري څخه مانع نه دى .

(۲۴)وَإِن حَرَّرَ نِصفَ عَبدٍ مُشتَرَكٍ ,وَضَمِنَ بَاقِيَهُ(۲۵)اَو حَرَّرَ نِصفَ عَبدِهِ ثُمَّ وَطِيَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنهَا ثُمَّ حَرَّرَ بَاقِيَهُ لَا

ترجمه :اوكه يې دمشترک غلام نصف ازادكړاودباقى ضامن شويايې خپل نصف غلام ازادكړبيايې له مظاهرمنهاسره وطى وكړه بيايې باقى حصه ازاده كړه نوصحيح نه دى .

تشريح :(۲۴)كه مظاهردمشترک غلام نصف حصه دكفاري په نيت ازاده كړه په دې حال كې چې ازادكونكى غنى وواودباقى مانده نصف دقيمت خپل شريک ته ضامن شونودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپه دې سره كفاره ظهارنه اداء كيږي اودصاحبينوپه نزدكه معتق غنى وونواداء كيږي اوكه تنگ لاسى وو نونه اداءكيږي .

دصاحبينودليل دادى چې دنصف غلام خودى مالک وو اودضمان په وركولوسره دخپل شريک دحصې هم مالک شونودى دپوره غلام ازادكونكى شوپه داسې حال كې چې هغه غلام دده په ملک دى .البته كه معتق غنى وي نودى دخپل شريک دحصه ضامن گرځي نوداعتق بلاعوض شويعنى پرغلام دازادي هيڅ عوض نه راغى لهذاداله كفاري څخه كفايت كوي اوكه مسكين وو نوغلام به سعى كوي نودادعتق بعوض كيدلوپه وجه له كفاري څخه كفايت نه كوي ولى چې كفاري لره تحريررقبه بلاعوض كفايت كوي.

دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادى چې كله مظاهرخپله حصه ازاده كړه نو دشريک حصه دهغه په ملک كې ناقص پاتې شوه (ولى چې اوس ده لره غلام ساتل محال دى دى به ازاديږي)اوس چې كله دضمان په ذريعه سر دمظاهرملک ته راځي نوناقصه راځي اودناقص ازادي دكفاره ظهارلپاره كافى نه ده .

ف:دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجع دی لمافی الدرالمختار:ولایجزی ....اعتاق نصف عبدمشترک ثم باقیه بعدضمانه لتمکن النقصان(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۶۳۰)

(۲۵)که مظاهرنیم غلام په کفاره کې ازادکړیایې له مظاهرمنهاسره وطی وکړه بیایې باقی مانده غلام ازادکړنودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدداعتاق کافی نه دی اودصاحبینوپه نزدکافی دی ،دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې په اعتاق کې تجزی کیدای شي (یعنی که یې غلام لږلږازادکړنوشومره چې یې ازادکړی دی هغومره ازادیږي)اوداعتاق شرط دادی چې له جماع څخه به وړاندي وي لقوله تعالی ﴿فتحریررقبة من قبل ان یتماسا﴾ (یعنی کوم خلک چې له خپلوښځو څخه ظهارکوي ...نوددوئ پرذمه دیوه غلام یامینځې ازادول دي وړاندي تردي چې دواړه خاونداوښځه سره یوځای شي)،دلته دنصف ازادول له جماع څخه وروسته متحقق شولهذاداجائزنه دی .دصاحبینوپه نزدځرنګه چې اعتاق متجزی نه دی په دي وجه دنصف غلام ازادول دپوره غلام ازادول دي لهذادصاحبینوپه نزددپوره غلام ازدول له جماع څخه وړاندي متحقق شوځکه جائزدی .

ف: دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجع دی لمافی الدرالمختار:ولایجزی ....نصف عبده عن تکفیره ثم باقیه بعدوطء من ظاهرمنهاللامربه قبل التماس ،قال ابن عابدین :فالشرط للحل مطلقااعتاق کل رقبة قبل التماس ولم یوجدفتقررالاثم بذالک الوطء(الدرالمختارمع الشامیة:۲/۶۳۰)

(۲۶)فَإِنْ لَمْ يَجِدْ مَا يُعْتِقُ صَامَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ(۲۷)لَيْسَ فِيهِمَا رَمَضَانُ وَأَيَّامٌ مَنْهِيَّةٌ(۲۸)وَإِنْ وَطِئَ فِيهِمَا لَيْلًا أَوْ يَوْمًا نَاسِيًا(۲۹)أَوْ أَفْطَرَ اسْتَأْنَفَ الصَّوْمَ(۳۰)وَلَمْ يُجْزِ لِلْعَبْدِ إلَّا الصَّوْمُ،وَإِنْ أَطْعَمَ أَوْ أَعْتَقَ عَنْهُ سَيِّدُهُ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ الصَّوْمَ أَطْعَمَ سِتِّينَ فَقِيرًا كَالْفِطْرَةِ أَوْ قِيمَتِهِ

ترجمه :اوکه یې داسي غلام ونه موندچې دی یې ازادکړي نودوه میاشتې دي پرلپسي روژي ونیسي چې په هغوکې به رمضان اوایام منهیه نه وي ،اوکه یې له مظاهرمنهاسره وطی وکړه په دي دوومیاشتو کې په شپه کې یاپه ورځ کې په هیره سره یایې روژه ماته کړه نوله سره به بیرته روژي نیسي ،اوغلام لره جائزنه ده مګرروژه نیول که څه هم اطعام وکړي یاازادکړي دده له طرف څخه دده مولی ،نوکه یې دروژو استطاعت نه وو نوشپیتومسکینانوته دفطري په شان خورک ورکړي یادي دهغه قیمت ورکړي .

تشریح :(۲۶)که مظاهردظهارکفاره اداء کول غوښتل مګردغلام په ازدي قادرنه وو نومتصلي به شپیته روژي نیسي اوکه یې ددي قدت هم نه وو نوشپیتومسکینانوته دي خورک ورکړي ولی نص قرآن ﴿فتحریررقبة من قبل أن یتماسا ذلکم توعظون به والله بما تعملون خبیر فمن لم یجد فصیام شهرین متتابعین من قبل أن یتماسا فمن لم یستطع فإطعام ستین مسکینا ذلک لتؤمنوا بالله ورسوله﴾ (یعنی کوم خلک چې له خپلوښځو څخه ظهارکوي بیادخبلي شوي ویناتلافی کول غواړي نوددوئ پرذمه دیوغلام یامینځې ازادول دي قبل تردي چې دواړه خاونداوښځه سره یوځای شي په دي سره تاسي ته نصیحت کیږي الله تعالی ستاسي په اعمالوپوره خبردی بیاچاته چې غلام یامینځه میسرنه وي نودهغه پرذمه متصلي شپیته روژي دي قبل تردي چې دواړه سره یوځای شي بیادچاچې داهم په وس نه وی پوره نودهغه پرذمه شپیتو مسکینانوته طعام ورکول دي داحکم ددي لپاره بیان کړل شوی دی چې پرالله اودهغه پررسول ایمان راوړئ)په همدي ترتیب سره واردشوی دی .

(۲۷)اودمظاهردکفاري متصلوروژونیولولپاره داشرط دی چې ددي دوومیاشتوپه دوران کې به درمضان میاشت نه وي ولی چې درمضان روژي له ظهارڅخه نه واقع کیږي ولی چې داروژي له ظهارڅخه په واقع کولوکې دایجاب باری تعالی ابطال لازمیږي ،همداشان به ددي دوومیاشتوپه دوران کې ایام منهیه هم نه وي یعنی دکوچنی اختوروځ اودلوی اختوروځ اودري ورځې دایام تشریق هم نه وي ولی چې په دي ورځوکې روژه نیول منهی عنه ده نوپه دي سره واجب کامل نه شي اداء کیدلی .

ف:اوداوه میاشتې روژي که یې دسپوږمۍ په حساب سره نیولې نوپه هرصورت جائزدي که څه هم دواړه میاشتې دنه ویشتوورځووي .اوکه یې دمیاشتې له منځ څخه شروع کړي نوشپیته روژي پوره کول ضروري دي که له نه پنځوس ورځوروژونیولوڅخه وروسته افطاروکړنوبیرته له سره روژي نیول ضروري دي .

(۲۸)که مظاهرله مظاهرمنهاسره په دي دوومیاشتوکې وطی وکړه خواه که یې په شپه کې عمداوکړي یاپه په ورځ کې سهواوکړي نودطرفینوپه نزدبه داکس بیرته له سره روژي نیسي .دامام ابویوسف رحمه الله په نزدله سره روژي نیولوضرورت نشته .دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دادی چې په شپه کې عمدااوپه ورځ کې سهوا وطی کول مفسدصوم نه ده لهذااوطی دروژوله اتصال څخه مانع نه دی اوپه کفاره کې تتابع شرط ده هغه متحقق شولهذااعاده ضروري نه ده. دطرفینورحمهماالله تعالی دلیل دادی چې په روژوکې دوشرطه دي یوداچې له وطی څخه به وراندي وي دوهم داچې له طی څخه به خالي وي اوپه خلال شهرین کې دوطی کولوپه وجه سره دوهم شرط متحقق نه شوځکه اعاده ضروري ده .

ف:دطرفینوقول راجح دی لمافی الدرالمختار:ای الخلاف بین ابی یوسف والطرفین فعندجماع المظاهرمنهاانمایقطع التابع ان افسدالصرم وعندهمامطلقا،الی ان قال ولذاقال فی الحواشی الیعقوبیة ان عدم الفرق بین السهووالعمدهوالظاهرلانه مقتضی دلیل ابی حنیفة ومحمد(ردالمحتار:۲/۶۳۲)

(۲۹)همداشان که مظاهرددوومیاشتوپه منځ کې یوه ورځ افطاروکړخواه که دعذرپه وجه وي اوکه بغیرعذروي په هرصورت کې به داکس بیرته له سره روژي نیسي ولی چې په روژوکې تتابع شرط ده کومه چې فوت شوحال داچې داکس به تتابع قادرهم دی .

(۳۰)که کوم غلام له خپلې ښځې څخه ظهاروکړنودهغه کفاره صرف په روژوسره اداء کیږي ولی چې غلام لره په هیڅ شئ ملکیت حاصل نه دی لهذادي نه دغلام په ازادولوسره کفاره اداء کولی شي اونه په اطعام سره کفاره اداء کولی شي لهذاده لره روژه نیول متعین دی .اوکه دده له طرف څخه دده مولی غلام ازادکړیایې اطعام وکړنوهم کافی نه دی ځکه چې غلام دمالک والی اهل نه دی اودمولی په مالک کولوسره مالک نه ګرځي لهذاغلام دتکفیربالمال اهل هم نه دی .

(۳۱)که مظاهردمرض په وجه یادکبرسنی په وجه سره په روژونیولوقدرت نه درلودنوپه کفاره کې دي شپیتومسکینانوته دومره خورک ورکړي څومره چې په صدقه فطرکې ورکړل کیږي یعنی نصف صاع غنم یایوه صاع خرمادي ورکړي ،دکوم صورت چې به داوي چې دفطري په شان دي هرمسکین نیمه صاع غنم یایوه صاع خرمایایوه صاع اوربشي اویاددهغه قیمت ورکړي ولی چې مقصوددمسکین حاجت دفع کول دي اودامقصودپه قیمت اداء کولوسره حاصلیږي .

(۳۲) فَلَوْ أَمَرَ غَيْرَهُ أَنْ يُطْعِمَ عنه عن ظِهَارِهِ فَفَعَلَ أَجْزَأَهُ (۳۳) وَتَصِحُّ الْإِبَاحَةُ فِي الْكَفَّارَاتِ وَالْفِدْيَةِ دُونَ الصَّدَقَاتِ وَالْعُشْرِ (۳۴) وَالشَّرْطُ غَدَاءَانِ أو عَشَاءَانِ مُشْبِعَانِ او غَدَاءٌ وَعَشَاءٌ (۳۵) وَإِنْ أَعْطَى فَقِيرًا شَهْرَيْنِ صَحَّ (۳۶) وَلَوْ فِي يَوْمٍ لَا إِلَّا عَنْ يَوْمِهِ (۳۷) وَلَا يَسْتَأْنِفُ بِوَطْئِهَا فِي خِلَالِ الْإِطْعَامِ

ترجمه: او که يې بل چاته امرو کړچې زماله طرف څخه د ظهار خورک ورکړه نو هغه ورکړنو کافي دی، او اباحت صحيح دی په کفاراتو او فديه کې نه په صدقاتو او عشر کې، او شرط دادی چې دوه سهاره يادوه مابنامه فقيرته په ډک نس خورک ورکړي يا يو سهار يو مابنام، او که يې يوه فقيرته دوه مياشتې خورک ورکړنو هم صحيح دی، او که يې په يوه ورځ کې خورک ورکړنو صحيح نه دی مګر له هغې ورځې، او اعاده دې نه کوي له مظاهر منها سره د خورک په منځ کې په وطی کولو سره.

تشريح: (۳۲) که چا کوم بل کس ته امرو کړچې زماله طرف څخه زما د ظهار د کفاري اطعام وکړه هغه اطعام وکړنو دا هم کفايت کوي ځکه چې د ظهار کونکی له خپل طرف څخه د خورک ورکولو حکم کول معنی له ده څخه د قرض غوښتل دي او فقير چې کله پر دي خورک قبضه کوي نو اول د ظهار کونکی له طرف څخه په نائب جوړيدلو سره د مظاهر لپاره پر دي خورک قبضه کوي بيا د خپل ځان لپاره قبضه کوي نو د مظاهر اول په خپله مالک کيدل او بيا فقير لره مالک جوړول متحقق شو.

(۳۳) او په ټولو کفاراتو کې اباحت صحيح دی خواه که د ظهار کفاره وي يا د روژې وغيره کفاره وي، د اباحت مطلب دادی چې مثلاً د شپيتو مسکينانو په وړاندې د خورک په ايښودلو سره د خورک اجازت ورکړي نو هغوئ چې څومره وخوړل هغه کفايت کوي فقيرانو لره مالک جوړول ضروري نه دی. همدا حکم د حج د جناياتو او د شيخ فاني د روژو د فديې هم دی ولې چې په نص کې اطعام ذکر دی او د اطعام معنی په خورک قدرت ورکول ده او همدا خبره په اباحت کې متحققه ده، البته په زکوة او عشر کې اباحت کافي نه دی بلکه د فقير مالک جوړول ضروري دی ولې چې د دوئ په باره کې په نصوصو کې لفظ د ايتاء راغلی دی کوم چې د تمليک مقتضي دی لهذا صرف اباحت کافي نه دی.

ف: په اباحت او تمليک کې فرق دادی چې په اباحت کې فقيرلره په مباح شوی شئ کې د هبې او خرڅولو وغيره تصرفاتو اختيار نه وي حال داچې د تمليک په صورت کې فقيرلره په مملوک شئ کې د مذکوره ټولو تصرفاتو اختيار وي.

(۳۴) او په اباحت طعام کې شرط دادی چې فقيرلره دوه سهاره يادوه ماشامه يا يو سهار او يو ماشام په ډک نس خورک ورکړل شي ولې چې معتبر ديوي ورځې حاجت دفع کول دي او عام عادت دادی چې په ورځ کې دوه وخته د خورک حاجت وي بيا دوه سهاره يادوه ماشامه خورک ورکول داسې دی لکه د يوه فقير په يوه ورځ کې دوه ځله د طعام حاجت پوره کول.

(۳۵) که يې يوه مسکين ته تر شپيتو ورځو پورې خورک ورکړنو هم کفاره اداء کيږي ولې چې له کفاري څخه مقصود د محتاج حاجت دفع کول دي او حاجت هره ورځ نوی نوی پيدا کيږي نو په دوهمه ورځ همدې مسکين ته خورک ورکول داسې دی لکه چې بل مسکين ته يې ورکړی وي لهذا تر شپيتو ورځو پورې يوه مسکين ته خورک ورکول شپيتو مسکينانو ته د خورک ورکولو په څير شو.

(۳۶)قوله ولولي يوم لاالاعن يومه اى لواعطى مسكيناواحداكل الطعام في يوم واحدلايصح الاعن يومه ،يعنى كه يې يوه مسکين ته په يوه ورځ کې ټول خوراک ورکړنودشپيتوورځولپاره کفايت نه کوي بلکه صرف ديوي ورځي لپاره کافي ده ولی چې متفرق کول په نص قرآن سره ثابت ده کوم چې په مذکوره صورت کې متحقق نه شونوداداسې شولکه چې کوم حاجي جمره په يوځل په اووډبروسره وويلي.

(۳۷)که مظاهردکفاري دخوراک ورکولوپه منځ کې له مظاهرمنهاسره وطي وکړه نودخوراک له سره راګرځولوضرورت نشته ولی چې ايت کريمه ﴿ فمن لم يستطع فاطعام ستين مسكينادالک لتؤمنوابالله ورسوله ﴾ (دچاچې داهم په وس نه وی پوره نودهغه پرذمه شپيتومسکينانوته طعام ورکول دي داحکم ددي لپاره بيان کړل شوی دی چې پرالله اودهغه پررسول ايمان راوړئ)کې دانه ده بيان شوی چې خوراک به له وطی څخه وړاندي وي.

(۳۸)وَلَوْ أَطْعَمَ عَنْ ظِهَارَيْنِ سِتِّينَ فَقِيرًا كُلَّ فَقِيرٍ صَاعًا صَحَّ عَنْ وَاحِدٍ,(۳۹)وَعَنْ إِفْطَارٍ وَظِهَارٍ صَحَّ عَنْهُمَا(۴۰)وَلَوْ حَرَّرَ عَبْدَيْنِ عَنْ ظِهَارَيْنِ,وَلَمْ يُعَيِّنْ صَحَّ عَنْهُمَا,وَمِثْلُهُ الصِّيَامُ وَالْإِطْعَامُ(۴۱)وَإِنْ حَرَّرَ عَنْهُمَا رَقَبَةً أَوْ صَامَ شَهْرَيْنِ صَحَّ عَنْ وَاحِدٍ(۴۲)وَعَنْ ظِهَارٍ,وَقَتْلٍ لَا

ترجمه :اوکه يې اطعام وکړددوظهاروله طرف څخه شپيته فقيرانوته هريوه فقيرته يوه صاع نوصحيح کيږي ديوه ظهارله طرفه ،اوکه يې دکفاره ظهاراوکفاره افطارله طرفه څخه ،ياپې دوه غلامه ازادکړل ددوظهاروله طرفه اومتعين يې نه کړل نوصحيح کيږي ددواړوله طرف څخه همدا حکم دروژه نيولو اوخوراک ورکولودی ،اوکه يې ازادکړددواړوله طرفه يوغلام ياپې دوه مياشتې روژه ونيوله نوصحيح کيږي ديوه له طرفه ،اوکه دکفاره ظهاروا وکفاره قتل له طرف څخه وونونه صحيح کيږي.

تشريح :(۳۸)که پرچادظهاردوه کفاري واجبي شوي ده ددواړوله طرف څخه شپيتومسکينانوته شپيته صاع طعام ورکړهريوه فقيرته يوه صاع ورکړه نودادشيخينوپه نزدديوي کفاري له طرف څخه صحيح کيږي ددواړولپاره کافي نه ده، اودامام محمد ﷫ په نزدددواړه کفاري اداء کيږي ولی دغنموچې کوم مقداراداء کړل شوی دی هغه ددواړلپاره کافي دی اوکوموفقيرانوته چې ورکړل شوی دی هغه دفقيروالی په وجه سره دکفارومحل هم دی ولی چې فقيرديوي کفاري دنصف صاع په اخيستلوسره دکفاري له مصرف څخه نه خارجيږي.

دشيخينودليل دادی چې واجب خوددوکفاروپه وجه سره يوسل اوشلوفقيرانوته خوراک ورکول وو ده ديوسل اوشلوپرځای شپيتوفقيرانوته يوجنس دوچنده ورکړاوپه يوه جنس کې ددووکفارونيت کول لغوه دی ولی چې نيت داجناسومختلفه وپه منځ کې دامتيازکولولپاره وي اوپه جنس واحدکې دامعنی متحقق نه ده لهذادمطلق ظهارنيت باقی پاتې شواوده چې څه اداء کړي دي هغه ديوه ظهارکفاره جوړيدلی شي ولی خومره مقدارچې مقرريږي هغه له هغه څخه کم لره مانع وي زيادت لره مانع نه وي نودکفاري لپاره ترنصف صاع کم جائزنه ده نه داچې له نصف صاع څخه زيادت هم جائزنه دی لهذاپه دي سره يوه کفاره اداء کيږي.

ف:دامام محمد ﷫ قول راجح دی لمافي الدرالمختار:اطعم ستين مسكيناكلاصاعابدفعة واحدة عن ظهارين كمامرصح عن واحد.........الى ان قال خلافالمحمدورجحه الكمال ،قال ابن عابدين :(قوله ورجحه الكمال)وكذاالاتقانى فى غاية البيان (الدرالمختارمع الشامية:۱۳۴)

(۳۹)قوله وعن الفطار وظهار ای لواطعم ستین فقیرا کل فقیر صاعا عن کفارة الفطار وکفارة ظهار صح عنهما یعنی که دچا پر ذمه دوه کفاري لازمي وي یوه دظهار اوبله درمضان دروژي دماتولو ،اوده ددي دواړو په نیت کولو سره په شپیتو مسکینانوکې هریوه ته یوه یوه صاع غنم ورکړل نودادواړو کفارو له طرف څخه کفایت کوي ولی چې اداء شوی مقدار ددواړو لپاره کافي دی اوداختلاف جنس په وجه سره نیت هم معتبردی .

(۴۰)که پرچا دظهار دوه کفاري واجبې شوي ده ددواړو له طرف څخه دوه غلامه ازاد کړل اوپه دواړوکې یې کوم یوله دووکفارو څخه دکومې یوې لپاره متعین نه کړنو دا صحیح دی ،همداشان که يې بلا تعین څلور میاشتې روژه ونیوله یا یې یوسل اوشلو مسکینانوته خورک ورکړنو صحیح دی ولی چې جنس متحد دی دمعین کونکی نیت ضرورت نشته ،دامام شافعی اوامام مالک په نزد بلا تعین صحیح نه دي .

(۴۱)که پرچا دوه کفاري واجب وي ده ددواړو له طرف څخه یو غلام ازاد کړیا یې دوه میاشتې متصلې روژي ونیولې نودا دیوې کفاري له طرف څخ کفایت کوي لهذادي کس لره اختیاردی چې له دووکفارو څخه یې کومه چې خوښه وي معینه کړي ولی چې په جنس واحدکې دتعیین نیت غیرمفیددی لهذا لغوه دی اوکله چې نیت لغوه شونوداسې شولکه چې ده دظهارله دووکفارو څخه یوغلام ازاد کړی وي اوددواړوله طرف څخه یې نیت نه وي کړی نوداجائزده اوده لره اختیاردی چې له دواړو څخه چې کومه یوه وغواړي متعینه کړي نوهمداشان دلته هم جائزده .

ف:دامام زفر رحمه الله په نزدله دواړو کفارو څخه دیوې له طرفه هم نه اداء کیږي ولی چې ده دهرې کفاري له طرف څخه نصف غلام ازاد کړی دی اوپه کفاره کې نصف غلام ازادول صحیح نه دی په دي وجه داازادول ده له طرف څخه تبرع ده لهذا اوس دکومې یوې له طرف څخه متعین کول ده ده په اختیارکې نه دي .

(۴۲)قوله وعن ظهار وقتل لا ای لوحرر رقبة مؤمنة عن ظهار وقتل لم یجز عن واحد منهما ،یعنی که دچاپر ذمه دوه کفاري وي یوه دظهار اوبله دقتل ،اوده له دي دواړو څخه دیوي له متعین کولو بغیر یو غلام ازاد کړنوپه دي صورت کې له دواړو کفارو څخه یوه هم نه اداء کیږي ولی چې دواړه کفاري له یوه جنس څخه نه دي لهذاله کفاري ورکولو څخه وړاندي تعین ضروري دي ،هوکه غلام کافروي نوهغه دظهار دکفاري له طرف څخه کفایت کوي ولی چې په کفاره قتل کې دکافرغلام ازدول جائزنه دی لهذا دظهار دکفاري لپاره متعین دي.

بَابُ اللِّعَانِ

داباب دلعان په بیان کې دی

لعان دلاعن مصدردی په لغة کې دشړلواوله خیرڅخه دلیري کولوپه معنی دی ،اوشرعاًداسې څلورو شهادتونوته ویل کیږي کوم چې په قسمونوسره موکدوي بیادنارینه شهادتونه مقرون باللعن وي او دښځې شهادتونه مقرون بالغضب وي ،اودنارینه شهادتونه دنارینه په حق کې دحدقذف قائم مقام دي اودښځې شهادتونه دښځې په حق کې دحدزناقائم مقام دي یعنی له لعان څخه وروسته پرنارینه حدقذف نشته اوپرښځې حدزنانشته .

دباب اللعان له باب الظهار سره مناسبت دادی چې ظهار او لعان دواړه موجب حرمت دي ، بیا ظهار په دي وجه مقدم کړای شو چې ظهار دلعان په نسبت اقرب الی الاباحت دی ولی چې لعان که دغیر منکوحه طرف ته منسوب کړل شي نو موجب حد قذف دی او موجب حد محض معصیت وي.

دلعان لپاره شرط قیام زوجیت دی ،اوسبب یې دنارینه پرښځې داسې الزام لګول دي کوم چې په اجنبیه کې موجب حد وي. اودلعان رکن داسې شهادتونه دي کوم چې مؤکدباللعن وي ،اودلعان حکم بعدتلاعن حرمت وطی والاستمتاع ده.

(١) هِيَ شَهَادَاتٌ مُؤَكَّدَاتٌ بِالأَيْمَانِ مَقْرُونَةٌ بِاللَّعْنِ قَائِمَةٌ مَقَامَ حَدِّ الْقَذْفِ فِي حَقِّهِ، وَمَقَامَ حَدِّ الزِّنَا فِي حَقِّهَا (٢) وَلَوْ قَذَفَ زَوْجَتَهُ بِالزِّنَا، وَصَلَحَا شَاهِدَيْنِ وَهِيَ مِمَّنْ يُحَدُّ قَاذِفُهَا أَوْ نَفَى نَسَبَ الْوَلَدِ، وَطَالَبَتْهُ بِمُوجَبِ الْقَذْفِ وَجَبَ اللِّعَانُ (٣) فَإِنْ أَبَى حُبِسَ حَتَّى يُلَاعِنَ أَوْ يُكَذِّبَ نَفْسَهُ فَيُحَدُّ (٤) فَإِنْ لَاعَنَ وَجَبَ عَلَيْهَا اللِّعَانُ فَإِنْ أَبَتْ حُبِسَتْ حَتَّى تُلَاعِنَ أَوْ تُصَدِّقَهُ (٥) فَإِنْ لَمْ يَصْلُحْ شَاهِدًا حُدَّ (٦) وَإِنْ صَلَحَ وَهِيَ مِمَّنْ لَا يُحَدُّ قَاذِفُهَا فَلَا حَدَّ، وَلَا لِعَانَ

ترجمه: لعان څو داسې ښهادتونه ویل کیږي چې هغوئ په قسمونوسره مؤکد وي کوم چې له لعنت سره مقرون وي کوم چې دحد قذف قائم مقام وي دنارینه په حق کې او دزنا قائم مقام وی دښځې په حق کې ،نو که یې تهمت ولګاوه پرخپله ښځه دزنا اونر او ښځې دګواهی صلاحیت درلود او ښځه له هغو څخه وه چې دهغې پر تهمت لګونکی حد جاري کیدو یا یې نفی کړه دبچی نسب او ښځه له ده څخه دتهمت دسزا مطالبه وکړي نو لعان واجبیږي ،نو که خاوند انکار وکړ نو قید کیږي به تر څو چې لعان وکړي یا دخپل ځان تکذیب وکړي او پرده حد جاري شي ،نو که نارینه لعان وکړنو پرښځه هم لعان واجبیږي نو که دي انکار وکړ نو قید کیږي به تر څو چې لعان وکړي یا دخاوند تصدیق وکړي ،او که خاوند دګواه جوړیدلو قابل نه وو نو ده ته به حد ور کول کیږي ،او که خاوند قابل وو مګر ښځه له هغو څخه وه چې پر هغې پر تهمت لګونکې باندي حد نه جاري کیدو نو پر خاوند نه حد شته او نه لعان.

تشریح :(١)مصنف ﷫ دلعان شرعی تعریف بیان کړی دی چې لعان شرعًا داسې څلور وشهادتونه ویل کیږي کوم چې په قسموسره مؤکدوي بیادنارینه شهادتونه مقرون باللعن وي یعنی نارینه به څلور ځله شاهدي ورکوي او هرځل به وایي چې زه الله ﷻ ګواه جوړوم چې ماکوم دزناتهمت پردي ښځې لګولی دی په هغه کې زه رښتیا ویونکی یم او پنځم ځل به وایي ماچې کوم تهمت پردي ښځه لګولی دی که زه په دي کې درواغ ویونکی یم نو پرمادي دخدای ﷻ لعنت وي. اودښځې شهادتونه به مقرون بالغضب وي یعنی دنارینه په شیر به ښځه څلور ځله شاهدي ورکوي او هرځل به وایي چې زه پر الله ﷻ له قسم سره ګواهی ورکوم چې دي کس چې پرمادزناتهمت لګولی دی په دي کې دی درواغجن دی او پنځم ځل به وایي ده چې کوم تهمت دزنا پرما لګولی دی که داکس په دي کې رشتیا ویونکی یې نو پرمادي دالله ﷻ غضب وي.

اودنارینه شهادتونه دنارینه په حق کې دکاذب والی په صورت کې دحدقذف قائم مقام دي ولی چې پردرواغو خبروباندي الله ﷻ شاهد جوړول له حد څخه زیات مهلک دی اودښځې شهادتونه دحد زناقائم مقام دي یعنی ورروسته له لعانه به پرنارینه حدقذف نه جاري کیږي اوپرښځه به حدزنانه جاري کیږي.

(۲)که خاوند پر خپله ښځه د زنا تهمت ولګاو ومثلاً وي ویل ته زانیه یې یا ما ته په زنا کولو ولیدلې یا یې وویل ای زانیه یا خاوند د خپلې ښځې دبچی نسب نفی کړمثلاً وي ویل دا بچی له زنا څخه دی یا دا بچی له ما څخه نه دی ، او ښځې له خپل خاوند څخه د موجب قذف (یعنی لعان) مطالبه وکړه نو پر خاوند لعان واجب دی په دې شرط چې زوجین به دواړه پر کوم مسلمان د ګواهی ورکولو اهل وي یعنی کافر یا مملوک یا نابالغ یا محدود فی القذف به نه وي او ښځه به داسې وي چې پر هغې تهمت لګونکی ته به حد قذف ورکول کیږي یعنی داسې ښځه به نه وي له کومې سره چې په نکاح فاسده کې وطی شوي وي یا یې په ژوند کې کله زنا کړې وي یا دې لره بچی غیر معروف الاب وي ولی چې پر داسې ښځې تهمت لګونکی ته حد نه ورکول کیږي .

(۳)که خاوند له لعان څخه انکار وکړ نو حاکم به دی بندی کړي تر څو چې دی په لعان کولو سره ځان بری کړي یا خپل ځان دروا غجن کړي په دې دوهم صورت کې پرده حد قذف جاري کیږي ولی چې لعان د حد قائم مقام دی نو کله چې لعان ونه شو نو پرده به اصل جاري کول واجب وي .

(۴)که خاوند لعان وکړنو پر ښځه هم لعان کول واجب دي لیکن څرنګه چې خاوند مدعی دی لهذا د لعان ابتداء به له خاوند څخه کیږي ،او که ښځه له لعان کولو څخه انکار وکړي نو حاکم به دا بندی کړي تر څو چې لعان وکړي یا د خپل خاوند تصدیق وکړی چې هغه رشتیا وایې ولی چې لعان پر ښځه هم واجب دی او هغه د لعان پر اداء کولو قادر دی لهذا د دې حق په وجه به دا محبوسه کیږي.

(۵)که خاوند د دې قابل نه وي چې دده د ګواهی اعتبار دي وکړای شي مثلاً غلام وي یا کافر وي (د دې صورت دا دی چې زوجین دواړه کافر وي بیا ښځه مسلمانه شي او پر خاوند له اسلام وړاندې کولو وړاندې هغه پر خپله ښځه تهمت ولګوي) یا محدود فی القذف (محدود فی القذف هغه دی چې پرده پر چا د تهمت زنا لګولو په جه سره حد قذف جاري شوي وي)وي په دې درې واړه صورتونو کې که خاوند پر خپله ښځه د زنا تهمت ولګوی نو پرده لعان واجب نه دی بلکه خاوند ته به حد قذف ورکول کیږي ولی چې لعان په یوه داسې وجه سره متعذر شوی دی کومه وجه چې د خاوند له طرف څخه ده لهذا اوس په دواجب اصلی یعنی حد قذف طرف ته رجوع کیږي او حد قذف د باری تعالی په دې ارشاد سره ثابت دی (والذین یرمون المحصنت لم لم یأتوا باربعة شهداء فاجلدوهم ثمانین جلدة و لاتقبلوا لهم شهادة ابدا)(یعنی کوم خلک چې تهمت ولګوي پر پاک لمنو ښځو او بیا پر خپله دعوی څلور ګواهان پیښ نه کړای شي نو داسې خلکو ته اتیا دورې ورکړئ او د دوئ کومه ګواهی کله هم مه قبلوئ).

(۶)که خاوند اهل شهادت وي مګر دده ښځه داسې وي چې پر هغې تهمت لګونکی ته حد نه ورکول کیږي مثلاً ښځه د چا مینځه وي یا کافره وي یا محدود فی القذف وي یا کوچنی وي یا مجنونه وي یا د دې زنا معروفه وي نو په دې ټولو صورتونو کې به نه د دې پر خاوند حد واجبیږي او نه لعان ولی چې دا ښځه نه اهل شهادت ده او نه د دې په جانب کې احصان (احصان دا دی چې کوم بالغ او ازاد مسلمان په نکاح صحیح سره وطی وکړي)شته نو د اهل شهادت د نه کیدلو په وجه سره لعان واجب نه دی او د محصنه نه کیدلو په وجه سره پر خاوند حد قذف هم نه جاري کیږي .

(٧) وصفته مانطق به النص فإن التعنا بانت بتفريق الحاكم (٨) وإن قذف بولد نفى نسبه وألحقه بأمه (٩) فإن أكذب نفسه حد (١٠) وله أن ينكحها (١١) وكذا إن قذف غيرها فحد أو زنت فحدت

ترجمه: اودلعان طريقه هغه ده كومه چې ايت مبارك بيان كړي ده نوكه دواړو لعان وكړنو ښځه بائنه كرځي دحاكم په تفريق سره ،اوكه خاوند په بچي سره تهمت ولګاوونو دهغه دنسب به نفي كړي اوملحق به يې كړي په خپلې مورپورې ،اوكه ده دخپل ځان تكذيب وكړنو حدبه وربانديې جاري كيږي ،اوملاعن لره جائزده چې له دي سره نكاح وكړي ،همداشان كه له ښځې څخه ماسواپه كوم بل چاتهمت ولګوي اوپرده حدجاري شي ياهغه زناوكړي اوپرهغې حدجاري شي.

تشريح: (٧) دلعان طريقه هغه ده كومه چې په سوره نوراومباركواحاديثو كې بيان شوي ده چې قاضي به دواړه زوجين حاضركړي اودلعان ابتداء به خاوندسره وكړي نوهغه به څلورځله ګواهي وركړي هرځل به وايې چې زه الله ﷻ ګواه جوړوم چې كوم تهمت دزناماپردي لګولی دی په هغه كې زه رشتياويونكی يم اوپنځم ځل به ووايې ماچې پردي ښځه كوم تهمت لګولی دی كه زه په هغه كې درواغجن يم نوپرمادي دالله تعالی لعنت وي ،اوخاوندبه ددي خبروكولوپروخت دښځې طرف ته اشاره كوي ،بيابه همداشان ښځه څلورځلكه ګواهی وركوي اوهرځل به وايې چې زه پرالله ﷻ په قسم سره ګواهی وركوم چې دي كس چې پرماكوم دزناتهمت لګولی دی په هغه كې دی درواغجن دی اوپنځم ځل به ووايې چې ده چې كوم دزناكاري تهمت لګولی دی كه دی به دي كې رشتياويونكی وي نوپرمادي دالله تعالی غضب وي.

ف: دښځې په طرف كې په پنځم ځل دپرمادي لعنت وي پرځای پرمادي غضب وي په دي وجه غوره شوی دی چې ښځې په خپل كلام كې دلعنت استعمال په كثرت سره كوي نودانس په وجه به په داسې موقع كې ښځه په هغه سره دشيرا كولوجسارت وكړي اوله په غضب دعدم انس په وجه په شيراكې له جسارت څخه پرهيزكوي.

ف: كه زوجينولعان وكړنوددوئ په منځ كې تفريق واقع كيږي مګرپه محض لعان كولوسره فرقت نه واقع كيږي بلكه قاضي به ددوئ ترمنځ تفريق كوي نوكه دقاضي له تفريق څخه وړانديې په دوئ كې كوم يووفات شونوهغه بل به يې وارث وي، دا فرقت دطرفينوپه نزدطلاق بائن دی ولی چې دافرقت دعنين په شان دقاضي په تفريق سره راغلی دی نودفرقت عنين په شان به داهم طلاق بائن وي .دامام ابويوسف رحمه الله په نزدپه لعان سره حرمت ابدی ثابتيږي لهذاښځه به دده په حق كې د هيمشه لپاره حرامه وي لقوله ﷺ ﴿المتلاعنان لايجتمعان أبدا﴾ (يعنی لعان كونكې خاونداوښځه به كله هم سره جمع نه شي.

ف: دطرفينوقول راجح دی لماقال المفتي غلام قادر النعماني :القول الراجح هوقول الطرفين ....الى ان قال وقال العلامة محمدابراهيم الحلبي وهواى التفريق طلقة بائنة على الصحيح فيجب العدة مع النفقة والسكنى وهذاعندالطرفين (القول الراجح: ١/٣٦١)

(٨) كه كوم كس پرخپله ښځه دزناتهمت په دي ډول سروه پوري كړچې دښځې دبچي طرف ته په اشاره كولوسره يې وويل چې دابچي زماله نطفې څخه نه دی ،نودده داقول هم موجب لعان دی ،نولعان څخه وروسته به قاضي ددي بچي نسب له دی كس څخه نفي كوي اوبچي به په مورپوري ملحق كوي ولی چې له حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه مروی ده چې نبی كريم ﷺ له لعان څخه وروسته بچي په مورپوري ملحق كړی وو.

(۹)اوكه له لعان څخه وروسته خاوندله خپل قول څخه رجوع وكړه اودخپل ځان تكذيب يې وكړيعنى وي ويل چې ماپرخپلې ښځې په دروا غوتهمت.لګولى وونوقاضى به پرده حدقذف جاري كوي ولى چې ده په خپل تكذيب كولوسره پرخپل ځان دحدقذف دواجبيدلواقراروكړنودااقرارپه وجه به پرده حدقذف جاري كيږي .

(۱۰)دطرفينوپه نزدخاونددخپل ځان له تكذيب څخه وروسته له دې ښځې سره نكاح كولى شي ولى چې كله پرخاوند حد قذف جاري شونودى اهل شهادت پاتې نه شو ځكه نوپه ده كې دلعان اهليت هم پاتې نه شونودتحريم نكاح كوم حكم چې په لعان پوري متعلق وو هغه هم مرتفع شو .دامام ابويوسف رحمه الله په نزداوس دده نكاح له دى ښځې سره كله هم نشي كيداى .

(۱۱)همداشان كه كوم كس پركومه اجنبيه ښځې دزناتهمت ولګاووبياپردې كس حدقذف جاري شونوهم دي كس لره له دې ښځې سره نكاح كول جائزده لماينا،همداشان كه زوجينوقبل الدخول لعان وكړيناوروسته ښځې زناوكړه اوبياپردې دزناحدجاري شونوهم دې خاوندلره له دې ښځې سره نكاح كول جائزده لى چې له حدڅخه وروسته په دې ښځه كې دلعان اهليت پاتې نه شولهذاداتحريم نكاح حكم هم مرتفع شو .

(۱۲)وَلَالِعَانَ بِقَذْفِ الْأَخْرَسِ وَلَا يَنْفِي الْحَمْلَ (۱۳)وَتَلَاعَنَابِزَنَيْتِ وَهٰذَا الْحَمْلُ منه ولم يَنْفِ الْحَمْلَ (۱۴)وَلَوْنَفَى الْوَلَدَعِنْدَالتَّهْنِئَةِ وَابْتِيَاعِ آلَةِ الْوِلَادَةِ صَحَّ,(۱۵)وَبَعْدَهُ لَا وَلَاعَنَ فِيهِمَا)(۱۶)وَإِنْ نَفَى أَوَّلَ التَّوْأَمَيْنِ وَأَقَرَّبِالثَّانِي حُدَّ)لِأَنَّهُ أَكْذَبَ نَفْسَهُ بِدَعْوَى الثَّانِي قال رحمه الله(۱۷)وَإِنْ عَكَسَ لَاعَنَ وَيَثْبُتُ نَسَبُهُمَا فِيهِمَا

ترجمه:اولعان نشته دګونګى په تهمت لګولوسره اودحمل په نفى كولوسره ،اودواړه به لعان كوي په دې وينا سره چې تازناكړي ده اودا حمل له زناڅخه دى اوحمل به نه نفى كيږي ،اوكه يې دبچى نسب نفى كړ دمباركي پروخت يادأسباب ولادت اخيستلوپروخت نوصحيح دى ،اوله دې څخه وروسته صحيح نه دى ،اولعان به كوي په دواړوكې ،اوكه يې اول نفى كړله غبرګوليانوڅخه اواقررېې وكړدوهم نوحدبه وركول كيږي اوكه يې ددې عكس وكړنولعان به كوي اوددواړونسب ثابتيږي په دواړوصورتونوكې.

تشريح :(۱۲)كه ګونګى پرخپله ښځه دزناتهمت ولګاوونوله دې سره لعان تعلق نه نيسي ولى چې لعان په صريح قذف (تهمت)پوري متعلق وي لكه څرنګه چې حدقذف په صريح په صريح قذف سره واجبيږي حال داچې دګونګى په تهمت لګولوكې شبه موجوده ده والحدودتندرئ بالشبهة (اوحدوددشبه په وجه سره دفع كيږي)همداشان كه خاوندخپلې ښځې ته وويل چې ستاداحمل له ماڅخه نه دى نوپه دې كې هم لعان نشته ولى چې قيام حمل يقيني نه دى ممكنه ده چې دهواياناروغي په وجه دې دښځې نس پرسيدلى وي ،اودصاحبينوپه نزدلعان شته په دې شرط چې په شپږمياشتې كې دننه بچى پيداشي ولى چې له شپږ ومياشتوڅخه په لږوخت كې دبچى په پيدا كيدلوسره معلومه شوه چې دتهمت پروخت حمل موجودوو.

(۱۳)كه خاوندخپلې ښځې ته وويل چې تازناكړي ده اوداحمل له زناڅخه دى نوزوجين به لعان كوي ولى چې دلفظ زنادصراحة موجودوالى په وجه سره دزناتهمت متحقق شولهذالعان واجب دى ، البته

قاضي به د دی حمل د نسب نفي له ده څخه نه کوي ولی چې د بچی نفی کول د بچی له احکامو څخه يو حکم دی او احکام ولد له ولادت څخه وروسته مرتب کیږي نه له ولادت څخه وړاندي .

(۱۴)که خاوند د خپلې ښځې د بچی له پیدا کیدلو څخه وروسته هغه وخت د بچی نسب له خپل ځان څخه نفي کړی په کوم وخت کې چې د بچی مبارکی اخیستل کیږي یا یې هغه وخت نفي کړ کوم وخت چې د پیدائش شیان اخیستل کیږي نو په دي دواړو صورتونو کې نفی کول صحیح ده (یعنی له خاوند څخه د بچی نسب نه ثابتیږي)ولی چې خاوند نه صراحة د ماشوم د نسب اعتراف کړی دی او نه دلالة ،او د دي نفی ولد په وجه به خاوند لعان کوي ولی چې د ولد د نفی په وجه سره خاوند تهمت لګونکی شو .

(۱۵)قوله وبعده لاای لو نفی الولد بعد التهنئة او ابتياع آلة الولادة لايصح نفيه ،یعنی که خاوند له دي وختونو څخه وروسته د ماشوم نسب نفي کړ نو دا نفی صحیح نه ده بلکه د ماشوم نسب به له ده څخه ثابتیږي ولی چې ده دلالة د ثبوت نسب اعتراف کړی دی او دلالة اعتراف د ده سکوت او د مبارکی قبلول دي دا د امام ابو حنیفه رحمه الله مسلک دی .د صاحبینو په نزد د نفاس په مده کې دننه د ماشوم نفی کول صحیح ده ولی چې په مده قصیره کې د ماشوم نفی صحیح ده او په مده طویله کې صحیح نه ده د دوئ په منځ کې فاصل مدت نفاس دی ولی چې نفاس د ولادت اثر دی او په مذکوره بالا دواړو صورتونو کې به لعان کوی ولی چې تهمت صراحة موجود شو .

ف:دامام ابو حنیفه رحمه الله قول راجح دی لماقال المفتی غلام قادر النعمانی:القول الراجح هو قول ابی حنیفه رحمه الله:قال علاء الدين الحصکفی:والصحیح قول الامام(القول الراجح: ١/٣٦٣)

(۱۶)که کومې ښځې له یوه نس څخه دوه ماشومان وزیږول یعنی د دواړو ماشومانو د زیږدلو په منځ کې له شپږو میاشتو څخه لږ فاصله وه او خاوند د اول ماشوم نسب نفی کړ او د دوهم اقرار یې وکړ نو پر خاوند به حد قذف جاري کیږي ولی چې ده د دوهم ماشوم د نسب د دعوی کولو په وجه خپل ځان دروغجن کړ ګویا دی وایې چې ما د اول ماشوم د نسب به نفی کولو سره په دروغو تهمت لګوی دی .

(۱۷)قوله وان عکس لاای ان اقر باول التوامين ونفی الثانی لایحد،یعنی که خاوند د اول ماشوم د نسب اعتراف وکړ او د دوهم نفی یې وکړه نو پر خاوند حد قذف واجب نه دی بلکه لعان واجب دی ولی چې خاوند د دوهم ماشوم د نسب په نفی کولو سره تهمت ولګاوو او له نفی څخه وروسته یې په رجوع کولو سره خپل ځان دروغجن کړی نه دی ځکه نو حد قذف نه پر جاری کیږي او لعان واجب دی ،او په دواړو مسئلو کې د دواړو ماشومانو نسب له خاوند څخه ثابتیږي ولی چې دواړه ماشومان غبرګولې دي له یوي نطفې څخه پیدا شوي دي نو دا څرنګه کیدای شي چې یو دي د ده بچی وي او بل دي نه وي .

باب العنين وغيره

دا باب د نامرد په بیان کې دی

عنين په لغت کې هغه ته وايې کوم چې پرجماع قادرنه وي اوشرعي تعريف يې مصنف رحمه الله په دې ډول کړي دی چې عنين هغه دی کوم چې له ښځوسره په جماع کولو قدرت نه لري ياخوله ثيبه سره جماع کولی شي مګرله باکرې سره په جماع کولوقادرنه وي نودباکرې په حق کې داکس عنين شمارل کيږي .ځينې حضراتويې داسې تعريف کړی دی چې عنين هغه دی دچاچې عضوتناسل موجودوي مګرهغه له ښځوسره په جنسي تعلقاتوقادرنه وي .

له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې مصنف رحمه الله له دې ځخه وړاندې دهغوخلګواحکام بيان کړل کوم چې دنکاح قابل وو بيايې دطلاق احکام ذکرکړل اوس دهغوخلګواحکام بيانوي کوم چې دناح قابل نه دي يعني دنامردااحکام .

(۱)هومن لَايَصِلُ إلَى النِّسَاءِ اويَصِلُ إلَى الثَّيِّبِ دُونَ الْأَبْكَارِ (۲)وَجَدَتْ زَوْجَهَا مَجْبُوبًا فُرِّقَ فِي الْحَالِ (۳)وَأُجِّلَ سَنَةً لو عِنِّينًا او خَصِيًّا (۴)فَإِنْ وَطِئَ ,وَإِلَّا بَانَتْ بِالتَّفْرِيقِ إنْ طَلَبَتْ (۵)فَلَوْ قَالَ وَطِئْتُ ,وَأَنْكَرَتْ ,وَقُلْنَ بِكْرٌ خُيِّرَتْ ,وَإِنْ كَانَتْ ثَيِّبًا صُدِّقَ بِحَلِفِهِ (۶)وَإِنْ اخْتَارَتْهُ بَطَلَ حَقُّهَا (۷)ولم يُخَيَّرْ أَحَدُهُمَا بِعَيْبٍ

ترجمه :عنين هغه ته چې ښځوته نشي رسيدلی ياثيبې ته خورسيدلی شي نه باکروته ،که ښځې خپل خاوندمقطوع الذکروموندنو فی الحال به تفريق کيږي اويو کال به مهلت ورکول کيږي که نامردوو ياخصي وو ،نوکه يې وطی وکړه نوبهتره ده که نه نو ښځه بائنه ګرځي دقاضي په تفريق سره که هغه مطالبه وکړي ،نوکه خاوندوويل چې ماوطی وکړه اوښځه انکاروکړي اوښځووويل چې هغه ښځه باکره ده نوښځې لره به اختيارورکول کيږيا وکه ثيبه وی نودخاوندتصديق به کيږي دهغه له قسم سره ،اوکه ښځې خاونداختيارکړنودې حق باطليږي ،اوپه دواړوکې به يوه لره هم اختيارنه ورکول کيږي دعيب په وجه سره .

تشريح :(۱)مصنف رحمه الله دعنين شرعي تعريف په دې ډول سره کړی دی چې عنين هغه دی کوم چې له ښځوسره په جماع قادرنه وي ياله ثيبه ښځې سره خوجماع کولی شي مګرله باکره سره پرجماع کولوقادرنه وي نودباکرې په حق کې داکس عنين شمارل کيږي .

(۲)که خاوندمجبوب (يعنی مقطوع الذکروالخصيتين معااومقطوع الذکرفقط)وي اوښځې دتفريق مطالبه وکړه نوحاکم به خاوندته له مهلت ورکولوځخه بغيرپه دواړوکې فی الحال تفريق وکړي ولی چې دمقطوع الذکرله طرف ځخه وطی متوقع نه ده لهذاده لره په مهلت ورکولوکې هيڅ فائده نشته .

(۳)که خاوندنامردوي اوښځه دتفريق مطالبه وکړي نوحاکم به (دعلاج لپاره)خاوندته يوکال مهلت ورکړي همداله حضرت عمر،حضرت علي اوحضرت ابن مسعود رضي الله عنهم ځخه مروی ده وجه يې داده چې کال په ځلورمختلفوموسمونوباندې مشتمل وي که نامردي دده پيدائشي نه وي بلکه دکومې ناروغۍ په وجه سره وي نوممکنه ده چې په کوم موسم کې جوړشي لهذاله مهلت ورکولوبغيرېه تفريق نه کيږي .همداشان که خاوندخصي وي نوهم به دده ته دنامرپه شان مهلت ورکول کيږي ولی چې ممکن ده چې دده په آله کې انتشارراشي اوپه وطی قادرشي ،خصي هغه دی چې خصيتين يې کښل شوي وي اوآله يې پاتې وي .

(۴)نوكه په ټول كال كې ده يوځل هم له خپلې ښځې سره وطى وكړه نو فبها ونعمت (نودزوجينو په منځ كې به تفريق نه كيږي)،اوكه يې په ټول كال كې يوځل هم وطى ونه كړاى شوه او خاوند طلاق وركولوته هم تيارنه وو،اوښځې دتفريق مطالبه وكړه نوحاكم به ددوئ په منځ كې تفريق كوي ولې خاوندلره چې كله امساک بالمعروف متعذرشونوتسريح بالاحسان واجب ده نوچې زوج ددي واجب له اداء كولوڅخه منع شونوقاضى به دده قائم مقام وي ترڅوله ښځې څخه ظلم دفع شي .اودحاكم داتفريق يوطلاق بائن دى ولې چې له طلاق بائن څخه بغيرله ښځې څخه ظلم نه دفع كيږي ،نوكه خاوندله دي سره خلوة صحيحه كړې وو نوښځې لره پوره مهردى كه نه نو نصف مهرلازم دى .

(۵)كه دكال له پوره كيدلوڅخه وروسته خاوندوويل چې ماجماع وكړه اوښځه انكاركوي نوتجربه كاري ښځې به داوګوري كه له كتلووروسته ښځوو ويل چې داخودپخواپه شان باكره ده له دي سره وطى نه ده شوي نوښځې ته به اختياروركول كيږي ولې چې ددي حق ثابت شو،اوكه كتونكوښځو وويل چې داخوثيبه ده نوبيادزوج دقول مع اليمين تصديق كيږي ولې چې ثيوبت دښځوپه وېناسره ثابتيږي اودثبوت ثيوت لپاره داضروري نه ده چې له ښځې سره به جماع شوي وي ولې چې دزوال بكارت نوراسباب هم شته لهذادخاوندقول به بغيرله يمين څخه تصديق نه كيږي ،همداراز خاوندحق فرقت څخه منكردى واليمين على من انكر.

ف:دښځې ثيبه والى ياباكره والى په دي طريقه سره معلوميداى شي چې دښځې په شرمګاه كې دچرګې كوچنى هګۍ داخله كړي كه هغه په اسانې سره داخله شوه نوثيبه ده كه نه نو باكره ده ،يادي هګۍ ماته كړاى شي اودښځې په شرمګاه كې دي توى كړي كه هغه دننه ولاړه نوښځه ثيبه ده كه نه نو باكره ده . دامخكنۍ طريقې دي نن صباډاكټران دنويوآلاتوپه ذريعه سره قطعي تحقيق كولى شي ځكه به نن صباپه ډاكټرتحقيق كيږي .

(۶)اوكه ښځې خپل نامردخاونداختياركړدجلاوالى مطالبه يې پرېښودله نوددي دجلاوالى حق باطل شوولې چې دي دخپل حق په بطلان په خپله رضاظاهره كړي ده ،اوكه ښځې فرقت اختياركړ نوقاضى به خاوندته ووايي چې دي ته طلاق بائن وركړه كه هغه انكاروكړ نوقاضى به په خپله ددوئ په منځ كې تفريق وكړي .

(۷)په زوجينوكې به يوه لره هم دهغه بل دكوم عيب په وجه سره دفسخ نكاح اختيارنه وي مثلاً ښځه مجنونه يادجزام يابرص په مرض اخته وي نوخاوندلره دفسخ نكاح حق نشته ولې چې دمرګ په وجه سره دوطى فوت كيدل فسخ نكاح نه واجبوي چنانچه له زوجينوڅخه دكوم يوه مرګ مهرنه ساقطيږي نودمذكوره عيبونوپه وجه خوپه وطى كې خلل واقع كيږي نوپه طريقه اولى سره نكاح نه فسخ كيږي .همداشان كه په خاوندكې كوم عيب وي مثلاًمجنون وي يادجزام يابرص په مرض اخته وي نودشيخينوپه نزدښځې لره دفسخ نكاح اختيارنشته ولې چې پرخاوندواجب خوله ښځې سره په وطى كولوددى مهرتصحيح دى اوپه زوج كې داخبره متحققه ده حال داچې دنكاح دفسخ كولوپه صورت كې دخاوندحق باطلول لازميږي ،پاتې

شودعنين وغيره په صورت کې ځرنګه چې مقصودنکاح (وطی) بالکليه فوتيږي په ذي وجه هلته دفسخ نکاح اختياروركول کيږي ،امام محمد رحمه الله له ښځې څخه ددفع ضررلپاره په عنين اومجبوب په قياسولوسره ښځې ته دفسخ نکاح اختياروركوي.

ف:دامام محمد رحمه الله پرقول به فتوى وركول کيږي لمافي الهندية :قال محمداذاكان الجنون حادثايؤجله سنة كالعنة ثم يخير المراة بعدالحول اذالم يبرا وان كان مطبقافهو كالجب وبه ناخذ كذافي الحاوى القدسى (الهندية: ١/٥٢٦)

ف:دزوجه مجنون په باره کې تفصيل په حيله ناجزه کې موجوددی چې په هغه کې حضرت حكيم الامت فرمايې:دامام محمد رحمه الله په نزددي (دمجنون ښځې لره)لره داحق حاصل دی چې قاضي ته درخواست وركړي اودتفريق مطالبه وکړي اوخپل ځان دمجنون له زوجيت څخه خلاصه کړي .....خلاصه داشوه چې له کوم مجنون څخه ناقابل برداشت ايذاء رسيږي دهغه مذکوره بالاحکم دی والله اعلم.....

اوکوم شرطونه داختيارچې دزوجه عنين دپاره دي له هغوڅخه اکثرشرائط اختياردزوجه مجنون دپاره هم دي چې دهغواجمال دادی (الف)له نکاح څخه وړاندي به ښځې ته دخاوند دمجنون والي علم نه وي .(ب)له نکاح څخه وروسته په عالميدوسره به يې درضاتصريح نه وي کړي .(ج)کله چې دمهلت دکال په تيريدلوسره په دوهم ځل درخواست سره قاضي ښځې ته اختياروركړي نوښځه به په دغه مجلس کې فرقت اختياروي که مجلس ختم شويابښځه په خپله يادچاپه اوچتولوسره اوچته شوه نواختيارنه پاتې کيږي (وهذه الشروط وان لم تكن مصرحة فى كتبنا الان القواعد الكلية المصرحة فى المذهب تقتضيهافان امثال هذه الاخيارات تتقيدبالمجلس وتبطل بالعلم قبل العقدوبتصريح الرضابعدالعقدوظاهرعبارة العالمگيرية فى قول محمديؤجله سنة كالعنة ثم يخير المرأة بعدالحول يؤيده والله أعلم).(د)دزوجه مجنون دپاره يوشرط داهم دی چې دجنون موجب للفسخ دعلم له حاصليدلوڅخه وروسته په خپل اختيارسره ښځې دجماع يادواعی جماع موقع نه وي وركړي ،بخلاف العنين فان المقصودفيه اختياروالامتحان (وهذاالشرط ايضاغيرمصرح فى كتبناولكنه مفادالقواعدعندناومصرح فى كتب المالكية كماسيأتى من شرح الدرديرفى الفائدة الاتية).(ه)دزوجه عنين په څيرزوجه مجنون هم له خپل خاوندڅخه په جلاکيدلوکې خودمختاره نه ده بلکه قضاء قاضي شرط ده اوپه کوم ځای کې چې قاضي نه وي هلته به شرعی جرګه دقاضي قائم مقام وي لکه چې په مقدمه کې تيرشو .(حيله ناجزه ص٥٢تا٥٥)

ف:دزوجه مجنون دفسخ نکاح لپاره چې کوم شرائط لوړذکرشول که هغه شرائط په کوم ځای کې موجودنه وونوبيابنابرجنون تفريق نه شي کيدلای ليکن که دامجنون دمعاش کومه ذريعه نه لري اودزوجې لپاره کومه بله لارهم نه وي نوپه دي صورت کې دمفتي لپاره دښځې داضطرارله پوره محقق کيدلواودڅوعلماؤله مشوري څخه بعدددي فتوى ګنجائش شته چې دمذهب مالکی په بناء دعدم نفقه په وجه په قاضي يادهغه په قائم مقام په دوئ دواړوکې تفريق وکړي اوداتفريق به دطلاق رجعی په حکم کې وي ....ليکن په دي کې له کامل تدبرڅخه په کاراخيستلودمذهب مالکی دټولوشرائطوپابندي کول ضروري ده په کوموکې چې يوشرط دادی چې دعدم نفقه په وجه سره دفسخ نکاح حکم هغه وخت وركول کيدای شي چې له عقدنکاح څخه وړاندي دي ته دخاونددفقيراوغريب والي علم نه وي که نه نو که دفقيروالي له علم سره سره عقدنکاح وکړل شونوبوجه عدم نفقه به دي لره دمطالبه تفريق حق نه وي الخ .(حيله ناجزه :ص٥٨)

بَابُ الْعِدَّةِ

داباب دعدت په بيان کې دی

عدت (دعين په کسره سره)په لغت کې شمارلو او ګڼلوته ويل کيږي او دفقه په اصطلاح کې هغه مدت ته ويل کيږي په کوم کې چې دنکاح صحيح له ختميدلو ،ياپه نکاح فاسد کې دقاضی له طرف څخه دجلا والی له فيصلې ياپه خپل منځ کې دفيصلې په وجه له يوبل څخه ترک تعلق يادشبه په وجه له وطی کولووروسته خپل ځان منع وساتې .

له ماقبل سره مناسبت دادی چې عدت څرنګه چې دخپل وجودپه لحاظ سره شرعاًپه فرقت نکاح مرتب کيږي اوفرقت دنکاح اثردی ځکه يې له وجوه فرقت يعنی طلاق ،ايلاء ،خلع اولعان څخه وروسته عدت ذکرکړولی چې اثرله مؤثرڅخه وروسته وي .

(۱)هِيَ تَرَبُّصٌ يَلْزَمُ الْمَرْأَةَ(۲)عِدَّةُ الْحُرَّةِ لِلطَّلَاقِ اَوِ الْفَسْخِ ثَلَاثَةُ أَقْرَاءٍ أَيْ حِيَضٍ (۳)اَوْ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ إِنْ لَمْ تَحِضْ (۴)وَلِلْمَوْتِ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ (۵)وَلِلْأَمَةِ قُرْءَانِ وَنِصْفُ الْمِقْدَارِ (۶)وَلِلْحَامِلِ وَضْعُهُ(۷)وَزَوْجَةُ الْفَارِّ أَبْعَدُ الْأَجَلَيْنِ

ترجمه :عدت هغه انتظاردی کوم چې پرښځه لازميږي ،دازادې ښځې عدت دطلاق اوفسخ نکاح لپاره دري قروء دي يعنی دري حيضه ،يادري مياشتې دي که دې ته حيض نه ورتو ،اودوفات لپاره څلور مياشتې اولس ورځې دي ،اودمينځې لپاره دوه قروء دي اودحره دعدت لپاره دمقررمدت نصف دی ، اودحامله لپاره وضع حمل ده ،اودزوجه الفارلپاره له دوومدو څخه ابعدده .

تشريح :(۱)مصنف رحمه الله دعدت مختصرشرعی تعريف کړی دی چې عدت هغه انتظارته ويل کيږي کوم چې پرښځه (له زوال نکاح ياشبه نکاح يافراش څخه وروسته)لازميږي .

(۲)که چاخپلې ښځې ته طلاق بائن ياطلاق رجعی ورکړياددوئ دواړترمنځ بغيرله طلاق څخه فرقت واقع شو(مثلاًښځې اب الزوج ته پرخپل ځان قدرت ورکړ)اودا ښځه آزاده وي اوله ذوات الحيض څخه وي نوددې عدت دطلاق اوفرقت له وخت څخه دري قروء يعنی دري کامل حيضونه دي ،که يې دحيض په حالت کې طلاق ورکړنودا حيض نه شمارل کيږي .

دعدت په باره کې په وارد شوي ايت ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ﴾ (مطلقه ښځې دې خپل ځانونه تردريو حيضونوپورې په انتظارکې وساتې)کې دقروء له لفظ څخه دامام شافعی رحمه الله اوامام مالک رحمه الله په نزدطهر مراددی لهذاددوئ په نزدعدت دري طهره دي مګردا حنافوپه نزدله قروء څخه مرادحيض دی لهذاعدت دري حيضه دي .

(۳)که ازادې ښځې ته دصغرسنې (يعنی دعمردلږوالی)په وجه سره يادسپين سروالی په وجه سره حيض نه ورتونوددې عدت به دري مياشتې وي لقوله تعالی ﴿وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ﴾ (يعنی ستاسې له مطلقه ښځوڅخه چې کومې ښځې دزيادت عمرپه وجه له حيض څخه مايوسې شوي دي که ستاسې ددوئ په عدت کې شک وي نوددوئ عدت دري مياشتې دي اوهمداشان کوموښځوته چې تراوسه پوري دکم عمري په وجه سره حيض نه وي ورغلی).

(۴)که دازادي ښځې خاوندوفات شونوددي عدت څلورمياشتې اولس ورځې دی خواه که ښځه مدخول بهاوي ياغير مدخول بهاوي ،خواه که بالغه وي يانابالغه وي ،خواه که مسلمانه وي ياکتابيه وي ،له ذوات الحيض څخه وي يا له غير ذوات الحيض څخه وي لقوله تعالى ﴿ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ﴾(يعنی کوم خلک چې وفات کيږي له تاسې څخه اوپريږدي ښځې نودا ښځې دي خپل ځانونه څلورمياشتې اولس ورځې په انتظارکې ساتې).

(۵)قوله والامة قرءان ولصف المقدراى عدة الامة حيضتان ولصف ماهومقدرفی حق حرة ،يعنی که متوفی عنهازوجها مينځه وي نوددي عدت طلاق دوه حيضه دي اوکه هغه دصغرسنی ياکبرسنی په وجه له ذوات الحيض څخه نه وه نوعدت طلاق يې دازادي ښځې لپاره دمقررشوي مدې نصف دی يعنی يوه مياشت اونيمځلس ورځې دي ،اوکه عدت وفات تيروي نوددي عدت دوه مياشتې اوپنځه ورځې دي لقوله ﷺ ﴿طلاقة الامة تطليقتان عدة الأمة حيضتان﴾ (دمينځې طلاقونه دوه دي اوددي عدت دوه حيضه دي) وجه استدلال داده چې نبی کريم ﷺ درقيت په وجه سره دطلاق اوعدت طلاق تنصيف کړي دی لهذادعدت وفات تنصيف به هم کيږي نودڅلورمياشتې اولسوورځوپرځای به دوه مياشتې اوپنځه ورځې وي.

(۶)قوله والحامل وضعه ای وعدة الحامل وضع الحمل ،يعنی که متوفی عنهازوجهاحامله وي نوددي عدت وضع حمل دی خواه که ازاده وي يامينځه وي ولې چې دباری تعالی قول ﴿ وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾ (يعنی دکوموپه نس کې چې ماشوم وي دهغوئ عدت داچې وزيږوي ماشوم)مطلق دی په دي کې دازادي اومينځه هيڅ تفريق نه ده شوي.

سوال :که دمطلقه يامتوفی عنهازوجهاپه نس کې ماشوم وفات شواووچ شونوددي عدت به څه وي؟

ځواب :ددواء ياپريشن په ذريعه سره دي صفائې وروکړای شې که حمل دڅلورومياشتويازيات وخت وونوپه دي طريقه په اسقاط سره عدت ختم شوکه نه نو ددري حيضه په تيريدلوسره عدت ختميږي. (احسن الفتاوی :۴۲۹/۵)

(۷)قوله وزوجة الفارابعدالاجلين ای وعدة زوجة المريض بمرض الوفات ابعدالاجلين من عدة الطلاق والوفات ،يعنی دزوجة الفار عدت ابعد الاجلين دی (يعنی که کوم مريض په خپل مرض الموت کې خپلې ښځې ته يوطلاق بائن يادري طلاقه ورکړل بيادښځې په عدت کې خاوندوفات شوداسې کس ته دشريعت په اصطلاح کې فارويل کيږي دفارلغوی معنی تښتيدونکی دی نوګويادی خپلې ښځې ته په طلاق ورکولوسره ددي له ميراث څخه تښتې)نودده ښځه به وارثه وي او ددي ښځې عدت به ابعدالاجلين وي يعنی پردي ښځې دطلاق په وجه سره دري حيضه تيرول واجب دي اودخاونددوفات په وجه څلور مياشتې اولس ورځې تيرول واجب دي په دي کې چې ده کوم يوه مدت زيات وي هغه به تيروي.

نوکه دري حيضه تيرشول ليکن څلورمياشتې اولس ورځې لانه وي پوره شوي نوويل کيږي به چې تراوسه عدت نه ده تيرشوی ترڅوچې څلورمياشتې اولس ورځې پوره شې اوکه څلورمياشتې اولس ورځې تيري شوي ليکن تراوسه لادري حيضه نه ووتيرشوي په دي دول چې ښځه ممتدة الطهروه نوهمدابه ويل کيږي چې تراوسه عدت نه دی تيرشوی ترڅوچې دری حيضه پوري شوي نه وي که څه هم ترمدت اياس

پوري انتظاروغواړي دادطرفینورحمهماالله مسلک دی ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدددي عدت صرف دري حیضه دی.

ف:دطرفینو قول راجح دی لمافی الدر المختار: (وفی) حق (امراة الفارمن) الطلاق (البائن) ان مات وهی فی العدة (ابعدالاجلین من عدة الوفات وعدة الطلاق) احتیاطاالخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار: ۲/۶۵۷)

(۸) وَمَنْ عَتَقَتْ فِي عِدَّةِ الرَّجْعِيِّ (۹) لَا الْبَائِنِ وَالْمَوْتِ كَالْحُرَّةِ (۱۰) وَمَنْ عَادَ دَمُهَا بَعْدَ الْأَشْهُرِ الْحَيْضُ (۱۱) وَالْمَنْكُوحَةُ نِكَاحًا فَاسِدًا، وَالْمَوْطُوءَةُ بِشُبْهَةٍ، وَأُمُّ الْوَلَدِ الْحَيْضُ لِلْمَوْتِ وَغَيْرِهِ

ترجمه:اوکومه چې ازاده شې دطلاق رجعی په عدت کې نه دبائن اومرګ په عدت کې هغه دازادې په څیر ده ،اوکومې ښځې ته چې وینه راوګرځي له میاشتووروسته نوددي عدت حیض دی ،اوهغه منکوحه چې ددي نکاح فاسده شوي وي اوهغه چې له دي سره وطی بالشبه شوي وي اودام ولدددي ټولو عدت حیض دی په مرګ اوغیرمرګ دواړوکې.

تشریح:(۸)که منکوحه مینځې ته ددي خاوندرجعی طلاق ورکړیاددي مولی داپه عدت کې ازاده کړه نوددي عدت دازادوښځودعدت طرف ته منتقل کیږي ولی چې دطلاق رجعي په وجه نکاح نه منقطع کیږي بلکه من کل وجه باقی پاتې وي نوګویادي لره ددي مولی دمنکوحه والی په حالت کې ازاده کړې ده.

(۹)که کومې مینځې دطلاق بائن عدت تیراوویاددي خاوندوفات شوي وواودي عدت وفات تیراوچې ددي مولی داازاده کړه نوپه دي صورت کې ددي عدت دازادوښځوطرف ته نه منتقل کیږي ولی چې دطلاق بائن اومرګ په وجه سره نکاح زائله شوي ده نوګویاددي مولی دي لره دغیرمنکوحه والی په حالت کې ازاده کړې ده.

(۱۰)که مطلقه ښځه په سن ایاس کې وي اودي خپله عده په میاشتوسره تیره کړه بیادی له سن ایاس څخه وراندې دعادت مطابق وینه ولیدله نودي چې څومره عدت په میاشتوتیرکړی دی هغه باطل شواوس به بیرته له سره په حیض سره عدت تیروی ولی چې دعادت مطابق دوینې راګرځیدل ددې ایاس باطلوي لهذادسن ایاس والاعدت هم باطل شو.

(۱۱)که له کومې ښځې سره نکاح فاسده وشوه (مثلابغیرشهودنکاح وشوه)یاله کومې ښځې سره وطی بالشبه وشوه (مثلاپه غلطی سره دخپلې ښځې پرځای له کومې بلې ښځې سره وطی وکړه) نوداسې ښځه به دفرقت یادواطی دمرګ په صورت کې عدت په حیض سره تیروي (په دي شرط چې داحامله یاآیسه نه وي)ولی چې پرداسې ښځې خوعدت درحم دپاکوالی دمعلومولولپاره وي نه چې دنکاح دحق داداء کولولپاره ،اودرحم دپاکوالی علم په حیض حاصلیږي ،همداشان که دام ولدمولی مړشویامولی ام ولدازاده کړه نوددي عدت به حیض وي کمافی الوطی بالشبهة.

(۱۲) وَزَوْجَةُ الصَّغِيرِ الْحَامِلِ عِنْدَ مَوْتِهِ وَضْعُهُ، (۱۳) وَالْحَامِلِ بَعْدَهُ الشُّهُورُ (۱۴) وَالنَّسَبُ مُنْتَفٍ فِيهِمَا (۱۵) وَلَمْ تَعْتَدَّ بِحَيْضٍ طُلِّقَتْ فِيهِ (۱۶) وَتَجِبُ عِدَّةٌ أُخْرَى بِوَطْءِ الْمُعْتَدَّةِ بِشُبْهَةٍ، وَتَدَاخَلَتَا، وَالْمَرْئِيُّ مِنْهُمَا، وَتَتِمُّ الثَّانِيَةُ إِنْ تَمَّتِ الْأُولَى

ترجمه:اودنابالغ دښځې عدت چې داحامله وي دده دمرګ پروخت وضع حمل ده ،اوله مرګ څخه وروسته دحامله کیدلو والاعدت میاشتې دي ،اونسب په دواړوصورتونوکې منتفی کیږي ،اونه دشماري هغه حیض

په کوم کې چې طلاق ورکړل شوی دی ،او واجبيږي دوهم عدت که له معتدي سره وطی بالشبه وکړل شوه او په دواړو کې به تداخل کيږي او کومه وينه چې ښکاره شي هغه به له دواړو څخه شمارل کيږي او پوره دي کړي دوهم عدت که اول عدت پوره شوي وي .

تشريح :(۱۲)که نابالغ هلک (له کوم څخه حمل نه شي اخيستل کيدای)مړشو او خپله ښځه يې په داسې حال کې پريښودله چې حامله وه نوددي عدت دطرفينو په نزد وضع حمل ده ولې چې ارشاد باری تعالی ﴿ وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾ يعنی دکومو په نس کې چې ماشوم دی دهغو عدت دادی چې ماشوم وزيږوي)مطلق دی .دامام ابويوسف رحمه الله په نزد ددی عدت څلورمياشتې اولس ورځې دی ولی چې حمل ثابت النسب نه دی لهذا دا دحادث بعد الموت په څيردی .

ف :دطرفينو قول راجح دی لما في الدر المختار:(ولو)كان (زوجها)الميت (صغيرا)غير مراهق وولدت لاقل من نصف حول من موته في الاصح لعموم آية واولات احمال الخ (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۲/۶۵۶)

(۱۳)قوله والحامل بعده الشهور ای عدة زوجة الصغير الحامل بعد موته اربعة اشهر وعشر ،يعنی که حمل دهلک (زوج)له مرګ څخه وروسته اخيستل شوی وو نوددي عدت څلورمياشتې اولس ورځې دی ولی چې دمرګ پروخت همدا عدت مقررشوی وو لهذا په وروسته کې دحمل اخيستلو په وجه نه متغيرکيږي ، اودماشوم نسب په دواړوصورتونوکې نه ثابتيږي ولی چې صغيرلره نطفه نه وي نو دده له طرف څخه حمل هم متصورنه دی .

(۱۴)که خاوند ښځې ته دحيض په حالت کې طلاق ورکړنو هغه حيض به په عدت کې نه شمارل کيږي په کوم کې چې طلاق ورکړل شوی دی ولی چې ددې حيض څه حصه تيره شوي ده (که څه هم ډيره لږ تيره شوي وي)نوکه دا په عدت کې شمار کړای شي نوعدت کامل دري حيضه نه کيږي حال دا چې په عدت کې دري کامل حيضه تيرول ضروري دي .

(۱۵)که کومه ښځه دطلاق بائن په عدت کې وه چې له دي سره چا وطی بالشبه وکړه نو پردي ښځې دتجدد سبب په وجه يو بل عدت واجبيږي او په دواړو عدو کې تداخل کيږي اوس چې دي ته کوم حيض له عدت ثاني څخه وروسته ورځي هغه له دواړو عدو څخه شمارل کيږي که اول عدت پوره شو او دوهم عدت لا نه وو پوره شوی نو دوهم عدت پوره کول ضروري دی مثلا معتدي داول عدت يو حيض تيرکړچې له دي سره وطی بالشبه وشوه نو اوس به دری نور حيضه تيروي په دي ډول به دا ښځه څلور حيضه تيروي په کوموکې چې به اول حيض له اولنی عدت څخه شمارل کيږي او منځنی دوه حيضونه به له دواړو عدو څخه شمارل کيږي او اخري حيض به صرف له عدت ثاني څخه شمارل کيږي .

(۱۷)وَمَبْدَأُ الْعِدَّةِ بَعْدَ الطَّلَاقِ وَالْمَوْتِ (۱۸)وَفِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ بَعْدَ التَّفْرِيقِ أَوِ الْعَزْمِ عَلَى تَرْكِ وَطْئِهَا (۱۹)وَإِنْ قَالَتْ مَضَتْ عِدَّتِي وَكَذَّبَهَا الزَّوْجُ فَالْقَوْلُ لَهَا مَعَ الحلف (۲۰)وَلَوْ نَكَحَ مُعْتَدَّتَهُ وَطَلَّقَهَا قَبْلَ الْوَطْءِ وَجَبَ مَهْرٌ تَامٌّ وَعِدَّةٌ مُبْتَدَأَةٌ (۲۱)وَلَوْ طَلَّقَ ذِمِّيٌّ ذِمِّيَّةً لَمْ تَعْتَدَّ

ترجمه :او عدت ابتداء دطلاق او مرګ څخه وروسته کيږي .او په نکاح فاسده کې له تفريق څخه وروسته يا دزوج له طرفه دعزم علی ترک الوطی څخه وروسته ،او وکه ښځې وويل چې زما عدت تيرشو او تکذيب وکړ ددي خاوند نو قول دښځې مع اليمين معتبر دی ،او که خاوند نکاح وکړه له خپلې معتدي سره بيا يې طلاق

ورکړله وطی څخه وړاندي نو واجبیږي کامل مهراو نوی عدت ،او که طلاق ورکړ ذمی ذمیه ته نو هغه به عدت نه تیروي.

تشریح :(۱۶)دطلاق په صورت کې دعدت ابتداء له طلاق ورکولو څخه وروسته کیږي او دوفات په صورت کې دخاوند له وفات څخه وروسته کیږي ولی چې طلاق او وفات دعدت سببونه دي لهذا دعدت ابتداء به له وجود سبب څخه وروسته وي.

ف:که خاوند طلاق ورکړ مگر ښځې ته معلومه نه شوه یاخاوند وفات شو مگر ښځه ناخبره پاتې شوه ترڅو چې دعدت زمانه تیره شوه نودښځې عدت پوره شو لهذا له معلومیدلو څخه وروسته به دادعدت اعاده نه کوي ولی چې عدت دزمانې دتیریدلو نوم دی کله چې زمانه تیره شوه نو عدت پوره شو.

(۱۷)دنکاح فاسد په صورت کې دمدخول بهاښځې دعدت ابتداء له هغه وخته کیږي کوم وخت چې حاکم دزوجینو په منځ کې تفریق وکړي یا واطی دترک وطی عزم وکړي یعنی په ژبه سره ووایې چې ترکت وطئها اوترکتها(مادي وطی پریښوده یامادا پریښودله)اوصرف عزم معتبرنه دی ،البته په غیرمدخول بهاکې صرف تفریق بالابدان کافی دی.

(۱۸)که ښځې دعوی وکړه چې زماعدت تیرشوخاونددي تکذیب وکړنودښځې دقول به مع الیمین اعتبارکیږي ولی چې ښځه دخپل ځان په باره کې امینه ده لهذا ددي قول معتبردی مگرڅرنګه چې دزوج له طرفه پر دي دکذب تهمت دی لهذا دصاحبینو په نزد به دي ته قسم ورکول کیږي.

(۱۹)که خاوند خپلې ښځې ته بائن طلاق ورکړبیا دي عدت له نه وو ختم شوی چې خاوند دوهم ځل نکاح ورسره وکړه مگرله وطی اوخلوة صحیحه څخه وړاندي یې بیاطلاق ورکړنود شیخینورحمهما الله تعالی په نزدددوهم ځل نکاح اوطلاق په وجه سره پرخاوند کامل مهرواجب دی اوپرښځې مستقل بل عدت لازم دی ولی چې دشیخینو په نزد خاوند چې په نکاح اول کې کوم دخول کړی دی هغه دخول په نکاح ثانی کې هم دخول شمارل کیږي لهذا دابښځه مدخول بهاده اودمدخول بهالپاره کامل مهرواجب وي اوپردي عدت واجب وي ،دامام محمد رحمه الله په نزدپرخاوندښځې لره دطلاق قبل الدخول په وجه سره نصف مهرواجب دی ولی چې دامام محمد رحمه الله په نزدخاوندچې په اوله نکاح کې کوم دخول کړی دی هغه په نکاح ثانی کې دخول نه شمارل کیږي په همدي وجه پرښځې صرف دمخکنی عدت پوره کول واجب دی.

ف:دشیخینو قول راجح دی لمافی الدرالمختار:(نکح)نکاحاصحیحا(معتدته)ولومن فاسد(وطلقهاقبل الوطء) ولوحکما(وجب علیه مهرتام و)علیها(عدة مبتداءة)(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۶۶۵)

(۲۰)که ذمی کس ذمیه ښځې ته طلاق ورکړنودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدپردي ښځې عدت لازم نه دی په دي شرط چې دذمیانو همداعتقادوي ولی چې دشرع دحق په دول پردي عدت نه شي واجبیدلی ځکه چې ذمیه په فروع شرع مخاطب نه ده اودحق زوج په دول هم نه شي واجبیدلی ولی چې زوج یې اعتقادنه لري ،دصاحبینو په نزدپرذمیه عدت واجب دی.

فَصلٌ فِي الإِحدَادِ

دافصل دماتم کولو په بیان کې دی

په ماقبل کې وجوب عدت او کیفیت عدت او من علیها العدة بیان شو په دې فصل کې هغه امور بیانیږي دکوموچې کول یانه کول پرمعتدو ښځو واجب دي.

(۱) تُحِدُّ مُعتَدَّةُ البَتِّ وَالمَوتِ (۲) بِتَركِ الزِّينَةِ وَالطِّيبِ وَالكُحلِ وَالدُّهنِ إِلّا بِعُذرٍ، وَالحِنَّاءِ، وَلُبسِ المُعَصفَرِ، وَالمُزَعفَرِ (۳) إِن كَانَت بَالِغَةً مُسلِمَةً (۴) لَا مُعتَدَّةُ العِتقِ وَالنِّكَاحِ الفَاسِدِ

ترجمه: او ماتم دي کوي دطلاق بائن او مرګ عدت تیرونکې، دزینت او خوشبو او رانجه او تیلو په پریښودلو سره مګر دعذر په وجه او دنکریزو او معصفر او مزعفر جامې داغوستنې په پریښودلو سره، که ښځه بالغه مسلمانه وي که څه هم مینځه وي، نه هغه ښځه کومه چې دازادیدلو او نکاح فاسد عدت تیروي.

تشریح: (۱) پرمعتده بائنه او متوفی عنهازوجها په دې حال کې چې دابالغه او مسلمانه وي ماتم کول واجب دی ولې چې نبی کریم ﷺ فرمایلې دي چې کومې ښځې لره دکوم کس پرمرګ تردریوورځو زیات ماتم کول جائزنه دی ماسواله دي چې ښځه دخپل خاوند په مرګ څلورمیاشتې اولس ورځې ماتم وکړي، همدارازمروی ده چې نبی کریم ﷺ معتدې لره په حناسره له خضاب کولو منع فرمایلې ده، داروایت مطلق دی متوفی عنهازوجها او معتده بائنه دواړوته شامل دی، او عقلی وجه داده چې دنعمت نکاح دفوت کیدلو په وجه دتأسف لپاره پردې ماتم کول واجب ګرځول شوی دی.

(۲) دښځې ماتم دادی چې زیب او زینت پریږدي او خوشبوئې لګول، رانجه لګول، تیل لګول خواه که خوشبوداروي یاغیرخوشبوداروتول ترک کړي ولی چې داشیان په ښځه کې رغبت زیاتوي حال داچې داسې ښځه له نکاح څخه منع کړای شوي ده نوله دې شیانوڅخه به هم ځان ساتې ترڅودې په وجه سره په حرام واخته نه شي، البته که کوم عذروي نودې شیانواستعمال جائزدی اذالضرورات تبیح المحظورات (ولی چې ضرورتونه محظورات مباح ګرځوي)، او نکریزې دې نه لګوي او په عصفریازعفران سره رنګ شوي جامه دې نه په تن کوي ولی چې داشیان هم رغبت زیاتوي کمامر.

دماتم کولوناجائزې طریقې

ف: دمغربی تهذیب دتقلیداو له هغه څخه دمرعوبیت په نتیجه کې په مسلمانانوکې هم دماتم ځینې داسې طریقې رواج شوي دي کومې چې غیراسلامې دي مثلادلږوخت لپاره خاموش پاتې کیدل، بیرغونه کښته کول، توري پټیانې ترل، دماتم ساز غږول، داظهارغم داټولې طریقې ناجائزدي، په فطري ډول چې کومې اوشکې په خپله راوځي (یعنی کومه ژړاچې په طبعی ډول کیږي) صرف دهغه اجازت دی. (جدیدفقهی مسائل: ۱/۴۴۲)

(۳) لیکن دماتم کولولپاره شرط دادی چې ښځه به بالغه وي پرنابالغه ماتم واجب نه دی ولې چې له نابالغې څخه خطاب شرع موضوع دی یعنی هغه په خطاب الهی کې داخله نه ده، همداشان داهم شرط دی چې ښځه به مسلمانه وي که څه هم مینځه وي ولی چې پرکافرې ښځې ماتم نشته ځکه چې داماتم شرعی حق

دي او هغه په شرعي حقوقو سره مخاطبه نه ده . دائمه ثلاثه په نزدپرنابالغه اوكافره باندي ماتم واجب دی ولی چي دماتم په باره كي نصوص مطلق دي ،اوپرمينځه دماتم دوجوب وجه داده چي مينځه په هغوتولوشرعي حقوقومخاطبه وي په كوموكي چي ددي دموليحق نه باطليږي اوماتم كول همداشان ده چي په ده سره دمولی حق نه باطليږي ،دكنزپه ځينونسخوكي دالفظ ولوامة نشته .

(۴)قوله لامعتدة العتق ای لايحدمعتدة العتق ،يعني كه مولی ام ولدازاده كړه يامولی مړشونوپه ام ولد ددي په عدت كي ماتم واجب نه دی ،همداشان دنكاح فاسدي په عدت كي ماتم نشته ولي چي ماتم خود نعمت نكاح دزائل والي په وجه سره واجبيږي حال داچي په دي ښځوكي ديوي هم نعمت نكاح نه دی زائل شوی ،اودزينت په باره كي اصل اباحت دی خاص كردښځودپاره قال الله تعالى (من حرم زينة الله التي اخرج لعباده).

(۵)وَلَا تُخْطَبُ مُعْتَدَّةٌ،(۶)وَصَحَّ التَّعْرِيضُ (۷)وَلَا تَخْرُجُ مُعْتَدَّةُ الطَّلَاقِ مِنْ بَيْتِهَا(۸)وَمُعْتَدَّةُ الْمَوْتِ تَخْرُجُ الْيَوْمَ وَبَعْضَ اللَّيْلِ(۹)وَتَعْتَدَّانِ فِي بَيْتٍ وَجَبَتْ فِيهِ(۱۰)إِلَّا أَنْ تُخْرَجَ أَوْ يَنْهَدِمَ

ترجمه :اودنكاح پيغام دي نه وركول كيږي معتدي ته ،اوتعريض صحيح دی ،اونه دي وځي معتده دطلا ق له خپل كورڅخه ،اومعتده مرگ په ورځ كي وتلی شي اودشپي په بعض حصه كي ،اودادواړه دي په هغه كوركي عدت تيروي په كوم كي چي عدت واجب شوی دی ،مگرداچي راويستل شي ياكورړنگ شي .

تشريح :(۵)معتده ښځي ته دنكاح پيغام وركول صحيح نه دی بلكه حرام دی لقوله تعالى ﴿وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا﴾ (يعني تاسي له دوئ سره په پټه وعدي مه كوئ مگرداچي معروفه خبره وكړي).

(۶)البته تعريض(تعريض داده چي يوشئ ذكركړي اومراد بل شئ وي)اجازت دی مثلاداسي ويل چي زه دنكاح اراده لرم ياداسي ووايي چي زه ستاطرف ته راغب يم ياكاش زماكوښځه وای ستاپه شان ،دجوازتعريض دليل دباری تعالى داارشاددی ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا عَرَّضْتُمْ بِهٖ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ﴾ (يعني پرتاسي گناه نشته په دي امركي كوم چي تاسي دښځوله كوزدي دتعريض په ډول سره ووایاست)، بايد يادوساتل شي چي تعريض له متوفى عنهازوجهاپوري خاص دی مطلقه معتده ته تريض جائزنه دی.

(۷)كومي ازادي ښځي ته طلاق بائن يارجعي وركړل شوی وي هغي لره په شپه ياورځ كي له خپل كورڅخه وتل جائزنه دي لقوله تعالى ﴿واتقوا الله ربكم لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَّأْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ﴾ (يعني تاسي له الله تعالى څخه ويريږئ كوم چي ستاسي رب دی داښځي ددوئ له كورنوڅخه مه باسئ اونه دي هغه ښځي په خپله وځي مگرهوكه كومه يوه ښكاره بي حيائي وكړي نوداپيله خبره ده)همداراز دداسي ښځي نفقه ددي پرخاوندواجب ده لهذادمنكوحه غيرمطلقه په شان دي لره له كورڅخه دوتلوحاجت نشته .

(۸)دمتوفى عنهازوجهالپاره تپوله ورځ اودشپي په څه حصه كي له كورڅخه دباهرپاتي كيدلو شرعاً اجازت شته ځكه چي ددي نفقه پرهيچاواجب نه ده لهذادروزي دتلاش لپاره وتلوته محتاجه ده اوكله په كاركولو كي شپه راځي اودڅه حصه دشپي هم تيريږي په دي وجه دشپي څه حصه په باهركي دپاتي كيدلواجازت وركړل شوی دی ،هوكه له دي سره بقدركفايت روزی وي نوبيادمطلقه په شان دي لره هم له كورڅخه وتل جائزنه دي ،مگرشپه به دواړه (معتدة الطلاق اومعتدة الموت)په هرحال په خپل هغه كوركي تيروي په كوم كي چي عدت واجب شوی دی ولي چي دشپي باهرتيرولو حاجت نشته .

(۸)په معتده ښځه واجب ده چې دوقوع فرقت اووفات زوج په وخت عدت په هغه مکان کې تیرکړي کوم مکان چې ددي طرف ته په اوسیدنه سره منسوب کیږي ،حتی که دادخپل اوسیدنې له مکان څخه ماسواپه کوم بل مکان کې وه چې خاوند طلاق ورکړنوفورابه خپل کورته واپس راځي.

(۱۰)که دوفات شوی خاوندپه مکان کې دښځې حصه دتنګې په وجه دومره وي چې داپه هغه کې نه شي اوسیدلی اونوروارثان هم داله خپلې حصې څخه وباسي یاپه کوم کورکې چې عدت واجب شوی دی هغه کورړنګ شي نوپه دي صورت کې دا ښځه بل مکان ته منتقل کیدلی شي ولی چې داانتقال دعذرپه وجه دی اوپه عباداتوکې اعذارمؤثروي.

(۱۱)بانت او مات عنها في سفر وبينها وبين مصرها أقل من ثلاثة أيام رجعت إليه (۱۲)ولو ثلاثة رجعت او مضت معها ولي أو لا (۱۳)ولو في مصر تعتد ثم تخرج بمحرم

ترجمه :ښځه بائنه شوه یاددي خاوندوفات شوپه سفرکې اودښځې اوددي دښارترمنځ له دریو ورځو څخه کمه فاصله وي نودخپل ښارطرف ته دي راوګرځي ،اوکه ددریوورځوفاصله وي نوواپس دي شي یادي دمقصدطرف ته ولاړه شي خواه که له دي سره ولی وي اوکه ولی نه وي ،اوکه داپه ښارکې وي نوهلته دي عدت تیرکړي بیادي له محرم سره ووځي.

تشریح :(۱۱)که کومې ښځې ته دسفرپه حال کې خاوندبائن طلاق ورکړیادسفرپه حال کې ددي خاوندوفات شواوحال داچې ددي ښځې اوددي ښارپه منځ کې له دریوورځوڅخه لږفاصله وي نودا ښځه دي خپل ښارته راوګرځي ولی چې په واپس راګرځیدلوسره دامقیمه ګرځي حال داچې دسفردجاري ساتلوپه حالت کې دامسافره کیږي .پاتې شوترخپل ښارپوري په راتګ کې چې کوم سفردی هغه ابتدائي نه دی بلکه پرسابقه سفربناء دی لهذاداجائزدی.

(۱۲)قوله ولو ثلاثة رجعت او مضت ای لو کان بینهما وبین مصر ثلاثة ایام فلها الخیاران شاءت رجعت وان شاءت مضت ، یعنی که ددي اوددي دښارپه منځ کې دري ورځې فاصله وي نو اوس دي لره اختیاردی که یې خوښه وي نوخپل ښارته دي راوګرځي اوکه یې خوښه وي نوچیرته چې یې اراده وي هلته دي ولاړه شي خواه که کوم ولی ورسره وي یانه وي ولی چې په دغه ځای کې اوسیدل چیرته چې خاوندوفات شوی وي دښځې په حق کې له خطرڅخه خالي نه دی لهذاخپل کورته دي واپس شي یادي منزل مقصودته ولاړه شي ، مګرکورته راګرځیدل اولی دي ترڅوعدت دخاوندپه کورکې تیرشي.

(۱۳)اوکه ښځه په کوم ښاریاکلي کې وي چې ددي خاوندوفات شواودي لره په دي ښاریاکلي کې داوسیدلوقدرت هم وي نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدبه دا ښځه له دي ښارڅخه نه ووځي ترڅوچې خپل عدت پوره کړي .بیاله عدت پوره کیدلوڅخه وروسته که له دي سره کوم محرم وي نوخپل کورته تللی شي ،دصاحبینوپه نزدکه له دي ښځې سره کوم محرم وي نوله عدت پوره کولوڅخه وړاندي هم له دي ځایه وتلی شي ولی چې محرم ورسره دی اودسفرپه حالت کې دتکلیف اوتنهائي دوحشت عذردی اودعذرپه وجه سره له مکان عدت څخه وتلی شي ،دمدت سفرپه وجه بې شکه له وتلوڅخه ممانعت دی مګردمحرم دوجودپه وجه سره هغه هم پاتې نه شو.دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې په عدت کې وتل بغیرله محرم څخه

ترسفرکولوزيات ممنوع دی همداوجه ده چې ښځه له مدت سفرڅخه کم بغيرله محرمه سفرکولی شي مگرمعتده لره داجائزنه ده ،نوکله چې ښځې لره بغيرله محرم ترمدت سفرپوري په سفروتل حرام دي نوپه عدت کې ددي سفرکول به په طريقه اولی سره حرام وي .

ف:دامام صاحب قول راجح دی لماقال المفتی غلام قادر النعمانی:القول الراجح هوقول ابی حنیفه ...وفی الهندیة:وان کان معهامحرم لم تخرج عندابی حنیفه وقالاتخرج وهوقول ابی حنیفه اولاوقوله الاخراظهر ...وقال استاذناالمفتی غلام قادرالنعمانی :والانسب ان یفتی بقول الصاحبین وذالک لفسادالزمان لان العدة فی السفربغیرمحرم لاتخلوعن مفسدة(القول الراجح: ١/٣٧٣)

بَابُ ثُبُوتِ النَّسَبِ

داباب دثبوت نسب په بيان کې دی

مصنف رحمه الله له دي څخه وړاندي دمعتده انواع (ذوات الحيض ،ذوات الاشهر ،اوذوات الاحمال)بيان کړي ثبوت نسب په دي دريوانواعوکې ددريمې نوع اثردی اواثرله مؤثرڅخه وروسته وي په دي وجه په دي باب کې ددي اثرمختلف صورتونه بيانوي چې په کوموصورتونوکې نسب ثابتيږي اوپه کوموکې نه ثابتيږي .

(١)وَمَنْ قَالَ إِنْ نَكَحْتُهَا فَهِيَ طَالِقٌ فَوَلَدَتْ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ مُذْ نَكَحَهَا لَزِمَهُ نَسَبُهُ وَمَهْرُهَا)(٢)وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِ مُعْتَدَّةِ الرَّجْعِيِّ وَإِنْ وَلَدَتْهُ لِأَكْثَرَ مِنْ سَنَتَيْنِ مَا لَمْ تُقِرَّ بِمُضِيِّ الْعِدَّةِ(٣)فَكَانَ رَجْعَةً فِي الْأَكْثَرِ مِنْهُمَا لَا فِي الْأَقَلِّ مِنْهُمَا (٤)وَالْبَتِّ لِأَقَلَّ مِنْهُمَا (٥)وَإِلَّا لَا (٦)إِلَّا أَنْ يَدَّعِيَهُ

ترجمه :چاوويل چې که زه له فلانکۍ ښځې سره نکاح وکړم نوهغه طلاقه ده بياله شپږمياشتوورسته دهغې ماشوم پيداشوله کوم وخت څخه چې له دي سره نکاح کړي ده نولازميږي نسب اودښځې مهر ،او ثابتيږي دمعتده رجعی دماشوم نسب که هغه ماشوم پيداشوله دوه کاله وروسته ترڅوچې دي اقرارنه وي کړي دعدت دتيريدلو ،اورجوع به شمارل کيږي له دووکالوڅخه په زيات کې نه له دووکالوڅخه په لږکې ،اودبائنه که له دووکالوڅخه په لږکې وو ،که نه نو ،مگرداچې خاونددهغه دعوی وکړي.

تشريح :(١)که چاوويل ،ان نکحت فلانة فهی طالق (که زه له فلانکۍ ښځې سره نکاح وکړم نوهغه طلاقه ده)بياده له هغې ښځې سره نکاح وکړه اوله نکاح څخه پوره شپږمياشتې وروسته ددي ښځې ماشوم وزيږيدونوددي ماشوم نسب به له دي کس څخه ثابتيږي ولی چې دابنځه دده فراش ده اودنبی کريم ﷺ ارشاددی چې الولدللفراش (ماشوم دصاحب فراش وي).اوپردي کس ښځې لره کامل مهرلازم دی ولی چې په ثبوت نسب سره ددي طلاق بعد الدخول ثابت شواوپه طلاق بعد الدخول کې پوره مهرلازميږي .

(٢)مطلقه رجعيه که دطلاق له وخت څخه په دوه کاله يا له دووکلونوڅخه په زياته مده کې ماشوم وزيږاوونوله خاوندڅخه به ددي ماشوم نسب ثابتيږي په دي شرط چې ښځې له دي څخه وړاندي دعدت دپوره کيدلواقرارنه وي کړی (که نه نو له شپږمياشتوڅخه په زياته مده کې دزيږيدونکی ماشوم نسب نه ثابتيږي)ولی کيدای شي چې دابنځه دي ممتدة الطهروي اودطهرداوږدوالی په وجه دي ددي عدت اوږدشوی وي اوخاونددي دعدت په زمانه کې وطی کړي وي ولی چې له معتده رجعيه سره وطی کول جائزده نوپه دي وطی سره رجعت هم ثابتيږي اودماشوم نسب هم ثابتيږي ولی چې له دي ښځې سره وطی

بعد الطلاق شوي ده ځکه چې دحمل اکثره مده دوه کاله ده اوظاهر حال دادی چې داوطی دي کس کړي ده ولی چې له مسلم څخه زنا منتفی ده .

(۳) قوله وكانت رجعة فى اكثر منهما اى كانت الولادة رجعة عليها اذا كان الميلاد فى اكثر من السنتين ، يعنى دمعتده رجعيه له دووكلونو څخه په زياته مده کې دماشوم زيږيدنه رجوع شمارل کيږي ولی چې علوق له طلاق څخه وروسته شوی دی اومسلمان خاوندله شان څخه داظاهره ده چې ده دعدت په دوران کې له معتده سره وطی کړې ده كومه چې ده لره جائزده لهذا په دي وجه دی رجوع كونكى شمارل كيږي ، اوكه له دوه كاله څخه په كمه مده کې ماشوم وزيږيدنو داوطی رجوع نه شمارل کيږي ځکه چې که دااحتمال شته چې وطی دي وروسته له طلاق څخه شوي وي نوداحتمال هم شته چې له طلاق څخه وړاندي دي شوي وي نوپه رجعت کې شک پيدا شوا وپه شک سره رجعت نه ثابتيږي .

(۴) قوله والبت لاقل منهما اى يثبت ولدمعتدة الطلاق البت اذاولدت لاقل منهما ، يعنى كومې ښځې ته چې طلاق بائن وركړل شوی وي بيادي دفرقت له وخت څخه تردووکلونو په کمه مده کې ماشوم وزيږا ونودي ماشوم نسب به دمطلقه له خاوند څخه ثابتيږي ولی چې دااحتمال موجوددی چې دطلاق پروخت دماشوم نطفې قرارموندلی دی نوددي امريقين نشته چې دنطفې له قرارموندلو څخه وړاندي دښځې فراش والی زائل شوي دي لهذا احتياطا نسب ثابتيږي .

(۵) قوله والالا اى ان لم تات به لاقل من سنتين بل اتت به بسنتين اواكثر لايثبت نسبه ، يعنى كه دفرقت له وخت څخه وروسته پوره دوه كاله ياله دووكلونو څخه بعد ماشوم وزيږيدنو نسب نه ثابتيږي ولی چې په دي صورت کې باليقين له طلاق څخه وروسته پيدا شوی دی ځکه چې که له طلاق څخه وړاندي حدوث حمل تسليم كړای شي نو دحمل مده به له دووکلونو څخه زياته شي حال داچې حمل په نس کې له دووکلونو څخه زيات نه شي پاتې كيدلی نوكله چې حمل له طلاق څخه وروسته اخيستل شوی دی اوله معتده بائنه سره وطی حرامه ده نوداددي خبري دليل دی چې داحمل ددي كس له نطفې څخه نه دی لهذا نسب نه ثابتيږي .

(۶) البته كه خاوند دعوی وكړه چې ماشوم زماله نطفې څخه دی نو دماشوم نسب له ده څخه ثابتيږي ولی چې ده په خپله ددي ماشوم نسب پرخپل ځان لازم كړی دی اوددي شرعي توجيه هم كيدای شي چې دي كس دعدت په زمانه کې داخپله بله ښځه ګڼلې وي اوله دي معتدي بائنه سره دي وطی كړي وي اوځنګه چې په ثبوت نسب کې احتياط كيږي لهذا دماشوم نسب ثابتيږي .

(۷) وَالْمُرَاهِقَةِ لِأَقَلَّ مِن تِسْعَةِ أَشْهُرٍ ، وَإِلَّا لَا (۸) وَالْمَوْتِ لِأَقَلَّ مِنْهُمَا (۹) وَالْمُقِرَّةِ بِمُضِيِّهَا لِأَقَلَّ مِن سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِن وَقْتِ الْإِقْرَارِ (۱۰) وَإِلَّا لَا (۱۱) وَالْمُعْتَدَّةِ إِنْ جَحَدَتْ وِلَادَتَهَا بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ أَوْ حَبَلٍ ظَاهِرٍ أَوْ إِقْرَارٍ بِهِ أَوْ تَصْدِيقِ الْوَرَثَةِ (۱۲) وَالْمَنْكُوحَةِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ فَصَاعِدًا ، وَإِنْ سَكَتَ (۱۳) وَإِنْ جَحَدَ فَبِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ عَلَى الْوِلَادَةِ

ترجمه : اوثابتيږي دمراهقې دماشوم نسب له نه مياشتو څخه په لږمده کې ، كه نه نو نه ثابتيږي ، او ثابتيږي دمعتده مرګ دماشوم نسب له دووکلونو څخه په لږمده کې ، اوثابتيږي دعدت دتيريدلو داقراركونكې دماشوم نسب له شپږمياشتو څخه په لږمده کې داقرارله وخت څخه ، كه نه نو نه ثابتيږي ، اوكه انكاروكړل شو دمعتدي دماشوم له زيږيدلو څخه نو ثابتيږي نسب ددوونارينه وياپوه نارينه اودوو ښځوپه شهادت سره

یابه حمل ظاهر یادهغه په اقراریادورثه وپه تصدیق سره، او ثابتیږي دمنکوحه دماشوم نسب په شپږمیاشتې یاله دي څخه په زیات وخت کې که خاوند خاموش وي ،اوکه خاوند انکاروکړي نو دیوې ښځې په شهادت سره پرولادت باندي.

تشریح :(۷)قوله والمراهقة ای یثبت نسب ولدالمرأة المطلقة المراهقة الخ ،یعنی که کومه مراهقه (قریب البلوغ انجلۍ)دطلاق عدت تیروي اوله نه میاشتوڅخه په لږمده کې ددي ماشوم وزیږیدونودطرفینوپه نزدداماشوم له دي خاوندڅخه دی اوکه له نهه میاشتې څخه په زیاته مده کې ماشوم وزیږیدنوداماشوم له دي خاوندڅخه نه دی ولی چې کومه ښځه له ذوات الحیض څخه نه وي دهغې عدت دري میاشتې دی نو دري میاشتوپه تیریدلو سره شریعت ددي دعدت دپوره کیدلو حکم ورکوي خواه که دا ښځه دعدت دپوره کیدلو اقرار وکړي اوکه یې ونه کړي اودعدت په پوره کیدلو په دلالت کولوکې دشریعت حکم دښځې له اقرار څخه لوړدی نوکه ښځه دعدت دپوره کیدلو اقرار کوي اوله دي څخه وروسته پرشپږ میاشتې ماشوم زیږیدونو نسب به نه ثابتیدونو دشریعت له طرفه دعدت دپوره کیدلو دحکم ورکولوپه صورت کې په طریقه اولی سره نسب نه ثابتیږي په دي وجه که مراهقه دطلاق له وخت څخه په نهه میاشتې ماشوم زیږوي نو ددي ماشوم نسب نه ثابتیږي .دامام ابویوسف رحمه الله په نزددطلاق له وخت څخه تر دوو کلونو پوري نسب ثابتیږي .دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دادی چې څرنگه چې له مطلقه رجعیه سره دعدت په زمانه کې وطی کول جائزده په دي وجه ممکنه ده چې دعدت په اخیري وخت کې دوطی شوي وي او یا دي په اکثر مدت حمل کې دماشوم ولادت شوی وي لهذا که دطلاق له وخت څخه تر اوویشت میاشتې پوري ماشوم وزیږید نودهغه نسب ثابتیږي .

ف :دطرفینو قول راجح دی لماقال المفتی غلام قادر النعمانی :القول الراجح هو قول الطرفین ...وقال العلامة ابن عابدین :قوله والالا ای وان لم یکن لاقل بل ولدت لتسعة اشهر فاکثر فانه لایثبت نسبه لانه حمل حادث بعد العدة (القول الراجح: ۱/۳۷۳)

(۸)قوله والموت لاقل منهما ای یثبت نسب ولدالمعتدة الموت الخ ،یعنی دکومې ښځې چې خاوند وفات شونو ددي ماشوم نسب ددي دخاوندله وفات څخه تر دوه کاله په دننه کې ثابتیږي که څه هم غیرمدخول بهاوه په دي شرط چې دي دعدت دپوره کیدلو اقرارنه وي کړی ولی چې ماشوم تردوه کلونوپوري په نس کې پاتې کیدلی شي اوپه ثبوت نسب کې احتیاط کیږي نوکله چې دي دعدت دپوره کیدلو اقرارنه دی کړی نودابه دمرګ له وخت څخه حامله شمارل کیږي اوددي عدت په میاشتونه دي تیرشوی لهذا تردوو کلونوپوري نسب ثابتیږي .دامام زفر رحمه الله په نزددمرګ دعدت له تیریدلو څخه وروسته دشپږومیاشتو په تیریدلو سره که ماشوم وزیږیدنونسب نه ثابتیږي ولی چې دمرګ له عدت څخه وروسته ماشوم زیږیدلی دی لهذا دایقینی نه ده چې دا دعدت په دوران کې حامله وه نو دنسب په ثبوت کې شک دی ځکه نه ثابتیږي .

(۹)قوله والمقرة ای یثبت نسب ولدالمقرة بمضی العدة لاقل من ستة اشهر ،یعنی که کومې معتدې اقرار وکړچې زماعدت تیرشوی یاداسې وشوچې ددي داقرارله وخت دشپږومیاشتوترپوره کیدلو وړاندي دي ماشوم وزیږاوونو ددي ماشوم نسب ثابتیږي ولی چې له شپږومیاشتو څخه په لږه مده کې دماشوم په زیږیدلو سره

ځرګندہ شوہ چې د اقرارپروخت داحاملہ وہ او ځرنګہ چې د حاملې عدت وضع حمل دی ځکہ نو دا د انقضاء عدت پہ اقرارکې دروا غجنہ دہ لهذا ددې مخکنی اقرارباطل دی پہ دې وجہ د ماشوم نسب ثابتیږي.

(۱۰) قوله والالاای ان لم تلدلستة اشهرمن وقت الاقراربل ولدت لاکثرلایثبت نسبه منه ،یعنی کہ د عدت لہ پورہ کیدلووروستہ د اقرارلہ وخت څخہ پہ پورہ شپږمیاشتې ماشوم وزیږید نو نسب نہ ثابتیږي ځکہ چې پہ اقرارسرہ معلومیږي چې حمل وروستہ لہ اقرارڅخہ اخیستل شوی دی ولی چې ښځہ پہ خبرورکولوکې امینہ دہ او قول دامین معتبروي ترڅوچې ددہ کذب متحقق نہ شي.

(۱۱) قوله والمعتده ان جحدت الخ ای یثبت نسب ولدالمعتدة بالشهادة الکاملة ان جحدالزوج والورثة ولادتها،یعنی کہ د معتدې ښځې ماشوم وزیږید او خاوندلہ ولادت څخہ انکاروکړنو د امام ابوحنیفہ رحمه الله پہ نزد نسب هغہ وخت ثابتیږي کلہ چې د ماشوم پرولادت دوہ نارینہ یایونارینہ اودوہ ښځې شاهدي ورکړي ،یاداچې حمل لہ وړاندې څخہ ښکارہ وي ،یاخاوند د حمل اعتراف وکړي یاورثہ تصدیق وکړي نوپہ دې صورتونوکې نسب ثابتیږي.

د صاحبینو رحمهما الله تعالی پہ نزدپہ مذکورہ ټولوصورتونوکې دیوې ښځې پہ ګواهی سرہ نسب ثابتیږي. د صاحبینو دلیل دادی چې د عدت د قیام پہ وجہ ښځہ د خپل خاوند فراش (وهوتعیین المرأة لماء الزوج بحیث یثبت منه نسب کل ولدتلده) او فراش والی نسب لازموي لهذا د نسب د ثابتولو هیڅ ضرورت نشتہ هو ددې خبرې ضرورت شتہ چې واقعی دا ماشوم لہ دې ښځې زیږیدلی دی او کہ نہ دی نو دا خبرہ دیوې ښځې پہ ګواهی سرہ ثابتیږي.

د امام ابوحنیفہ رحمه الله دلیل دادی چې ښځہ ځرنګہ چې عدت تیروي ځکہ نو دا د خاوند مکمل فراش نہ دی لهذا فراش د ناقص والی پہ وجہ سرہ د ثبوت نسب لپارہ کافي نہ دی نو د ثبوت نسب لپارہ د کامل ګواهی ضرورت دی او کاملہ ګواهی دادہ چې دوہ نارینہ ګواهی ورکړي یایونارینہ اودوہ ښځې ګواهی ورکړي البتہ کہ حمل ښکارہ وو یاخاوند ګواهی ورکړي نوپہ دې صورتونوکې قبل الولادت نسب ثابت دی .اوکہ ورثہ تصدیق وکړي نوهم د شهادت ضرورت نشتہ ولی چې ورثہ د خاوند (میت) قائم مقام دي لهذا د خاوند پہ شان د دوئ بہ تصدیق سرہ هم نسب ثابتیږي.

ف: د امام ابوحنیفہ رحمه الله قول راجح دی لما فی الدرالمختار: (و)یثبت نسب ولد (المعتدة)بموت اوطلاق (ان جحدت ولادتها بحجة تامة) واکتفیابالقابلة وقیل برجل، قال العلامة ابن عابدین (قوله وقیل برجل)ای علی قولهما وعبرعنه بقیل تبعاللفتح وغیرہ اشارالی ضعفه (الدرالمختارمع الشامیة: ۲/۶۸۰)

(۱۲) قوله والمنکوحة لستة اشهرفصاعداان سکت ای ویثبت نسب المنکوحة لستة اشهرفصاعداان سکت ،یعنی کہ چالہ کومې ښځې سرہ نکاح وکړہ بیا د نکاح لہ وخت څخہ پہ شپږمیاشتې یازائد کې ماشوم وزیږید نو ددې ماشوم نسب بہ لہ دې خاوند څخہ ثابتیږي خواکہ خاوند اقراروکړي یاخاموش پاتې شي ولی چې د ښځې فراش والی هم ثابت دی او د حمل مدت هم پورہ دی .اوکہ د نکاح لہ وخت څخہ ترشپږو میاشتو پہ کم کې ددې ښځې ماشوم وزیږید نو ددې ماشوم نسب بہ لہ دې خاوند څخہ ثابت نہ وي ولی چې د حمل لږترلږہ مدہ شپږمیاشتې

ده اوماشوم له شپږمیاشتې څخه په لږمده کې وزیږیدنو معلومه شوه چې نطفې له نکاح څخه وړاندې قرارنیولی دی نو ثابته شوه چې دا نطفه له دې خاوند څخه نه ده نو نسب هم له ده څخه نه ثابتیږي.

(۱۳)که ماشوم په شپږمیاشتې یاله دې څخه په زیات وخت کې وزیږید مګر خاوند د ماشوم له زیږیدنې څخه انکار وکړ ودیوې ښځې (کومه چې پرولادت ګواهي ورکړي)په ګواهي سره ولادت ثابتیږي ولی چې نسب خود فراش په وجه ثابت دی حاجت تعین ولد لره دی نو هغه دیوي ښځې په ګواهي سره متعین کیږي کما مر.

(۱۴)فَإِنْ وَلَدَتْ ثُمَّ اخْتَلَفَا فَقَالَتْ نَكَحْتَنِي مُنْذُ سِتَّةِ أَشْهُرٍ, وَادَّعَى الأَقَلَّ فَالْقَوْلُ لَهَا وَهُوَ ابْنُهُ (۱۵)وَلَوْ عَلَّقَ طَلاقَهَا بِوِلادَتِهَا وَشَهِدَتْ امْرَأَةٌ عَلَى الْوِلادَةِ لَمْ تَطْلُقْ (۱۶)وَإِنْ كَانَ أَقَرَّ بِالْحَبَلِ طَلُقَتْ بِلا شَهَادَةٍ (۱۷)وَأَكْثَرُ مُدَّةِ الْحَمْلِ سَنَتَانِ (۱۸)وَأَقَلُّهَا سِتَّةُ أَشْهُرٍ

ترجمه: او که دښځې ماشوم وزیږید وبیا دواړو اختلاف وکړ ښځې ووېل چې ده له ما سره نکاح کړې له شپږمیاشتو څخه او خاوند دلږ وخت دعوی کوي نو قول به دښځې معتبروي او ماشوم به دخاوند بچی وي،او که یې معلق کړ دښځې طلاق دماشوم په زیږیدلو پوري او یوې ښځې دولادت ګواهي ورکړه نو طلاق نه واقع کیږي ،او که خاوند دحمل اقرار وکړ نو طلاق کیږي بلا شهادته ،او دحمل اکثر مدت دوه کاله دی او لږ مدت یې شپږمیاشتې دی.

تشریح :(۱۴)که دښځې ماشوم وزیږید بیا په زوجینو سره اختلاف شو ښځه وایې چې ستاله ما سره دنکاح کولو شپږ میاشتې تیرې شوي دي لهذا دا ماشوم له تا څخه دی له زنا څخه نه دی او خاوند وایې چې دنکاح له وخت څخه تراوسه پوري شپږمیاشتې نه دي پوره شوي لهذا دا ماشوم زما له نطفې څخه نه دی نو په دې صورت کې دښځې قول معتبر دی او دماشوم نسب له دې کس څخه ثابتیږي ولی چې ظاهر حال ښځې لره شاهد دی ولی چې ظاهره داده چې دا ماشوم له نکاح څخه زیږیدلی وي نه له زنا څخه.

(۱۵)که چادخپلې ښځې طلاق دماشوم په زیږدلو پوري معلق کړ مثلا وویل که ستا ماشوم وزیږید ونو ته طلاقه یې .او س یوې ښځې ګواهي ورکړه چې ددې ماشوم وزیږیدنو دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد پر دې ښځې طلاق نه واقع کیږي ولی چې دا په خپله ګواهي سره ددې کس حانث والی ثابتوي کوم چې له حجة تامه څخه بغیر نه ثابتیږي حال دا چې دیوې ښځې ګواهي حجة تامه نه دی .او دصاحبینو په نزد طلاق واقع کیږي .دصاحبینو دلیل دادی چې په کوموشیانو چې نارینه نه شي خبریدلی دهغو په باره کې دښځې ګواهي معتبره ده او ولادت له همدې امورو څخه دی.

(۱۶)او که په مذکوره بالا صورت کې خاوند ددې دحمل اقرار وکړ نو دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دیوې ښځې په صرف بیان ولادت سره طلاق واقع کیږي دګواهي ورکولو ضرورت نشته ولی چې اقرار بالحمل په هغه شئ هم اقرار دی دکوم طرف ته چې حمل مفضی دی یعنی دولادت .نو دخاوند په اقرار سره ولادت ثابت دی ددایه دګواهي ضرورت نشته .حال دا چې دصاحبینو په نزد ددایه ګواهي ضروري ده ولی چې دایه ددې کس دحانث والی دعوی کوي کوم چې بغیر له حجته نه ثابتیږي او په داسې مواقعو کې ددایه ګواهي معتبره ده.

(۱۷) دحمل اکثرمدت دوه کاله دی ولې چې دحضرت عائشه رضی الله عنها قول دی چې ماشوم په نس کې له دوه کاله ځخه زیات نه شي پاتې کیدلی اګردومره وخت وي څومره وخت چې دڅرخی دڅرخیدلو په وخت سایه تم کیږي .ظاهره ده چې داخبره په قیاس سره نه شي معلومیدای لهذا همدابه ویل کیږي چې حضرت عائشه رضی الله عنها له نبی کریم ﷺ ځخه اوریدلی ده ،دامام شافعی رحمه الله په نزدد حمل اکثرمدت څلورکاله دی هغه په حکایاتوسره استدلال کوي لکه چې مروی ده چې ضحاک دخپلې مورپه نس کې ترڅلوروکالوپاتې وو بیادزیږیدلو په وخت کې دده غاښونه راوښنه شوي وواوخندل یې ځکه یې دده نوم ضحاک کښیښود.

(۱۸) اودحمل لږترلږه مده بالاتفاق شپږمیاشتې ده لقوله تعالی ﴿وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا﴾ (یعنی دماشوم په حمل کې پاتې کیدل اودی له شیدوپریکول دیرش میاشتې دي)اوبیایې فرمایلې دي وفصاله فی عامین چې فصال په دوه کاله کې کیږي نو دحمل لپاره شپږمیاشتې پاتې شوي .

(۱۹) فَلَوْ نَكَحَ أَمَةً فَطَلَّقَهَا فَاشْتَرَاهَا فَوَلَدَتْ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْهُ لَزِمَهُ وَإِلَّا لَا (۲۰) وَمَنْ قَالَ لِأَمَتِهِ إِنْ كَانَ فِي بَطْنِكِ وَلَدٌ فَهُوَ مِنِّي فَشَهِدَتِ امْرَأَةٌ بِالْوِلَادَةِ فَهِيَ أُمُّ وَلَدِهِ (۲۱) وَمَنْ قَالَ لِغُلَامٍ هُوَ ابْنِي وَمَاتَ فَقَالَتْ أُمُّهُ أَنَا امْرَأَتُهُ وَهُوَ ابْنُهُ مِنِّي يَرِثَانِهِ (۲۲) فَإِنْ جُهِلَتْ حُرِّيَّتُهَا فَقَالَ وَارِثُهُ أَنْتِ أُمُّ وَلَدِ أَبِي فَلَا مِيرَاثَ لَهَا

ترجمه :نوکه چانکاح وکړه له مینځې سره بیایې دي ته طلاق ورکړاووایې خیستله بیادهغې ماشوم وزیږیدوله شپږو میاشتوپه کم وخت کې نوهغه ده لره لازم دی ،اوچاکه خپلې مینځې ته وویل که ستاپه نس کې ماشوم وونوهغه له ماځخه دی بیایوي ښځې ګواهی ورکړه پرولادت نوهغه دده ام ولد ګرځې ،اوچاکه دکوم هلک په باره کې وویل هغه زما زوی دی اووفات شو بیادهلک مورووویل چې زه دده ښځه یم اودادده زوی دی نو دواړه به دده وارث وي ،بیاکه مجهوله شوه ددې ازادي اودمیت وارث ووایې ته زمادپلارام ولدیې نوښځې لره میراث نشته .

تشریح :(۱۹)که چادبل له مینځې سره نکاح وکړه بیایې له وطی ځخه وروسته طلاق ورکړبیایې هغه له مالک ځخه واخیسته نوکه داخیستلوله وخت ترشپږمیاشتې په کم وخت کې ماشوم وزیږیدنوددې ماشوم نسب به پرده بلادعوی لازم وي ولې چې ماشوم له شپږمیاشتې ځخه په لږوخت کې وزیږیدوله کوم ځخه چې معلومه شوه چې دانطفه له اخیستلوځخه وړاندې قرارنیولی دی نوثابته شوه چې داماشوم دمعتدې دی اودمعتدې دماشوم نسب بغیرله دعوی ځخه ثابتیږي.اوکه په شپږمیاشتې یاله دې ځخه په زیات وخت کې ماشوم وزیږیدونودنسب له دعوی کولوځخه بغیردماشوم نسب پرده نه لازمیږي ولې چې داماشوم دمملوکه مینځې دی ځکه چې داعلوق له اخیستلوځخه وروسته شوي دی اودمملوکه مینځې نسب بغیرله دعوی نه ثابتیږي .

(۲۰)که چاخپلې مینځې ته وویل چې که ستاپه نس کې ماشوم وي نوهغه له ماځخه دی بیاداقرارله وخت ترشپږمیاشتې په لږوخت وکې یوې ښځې دمینځې دماشوم دزیږیدلوګواهی ورکړه نودامینځه ددې کس ام ولدګرځې ولې چې دمینځې دماشوم نسب نسب دمولی په دعوی سره ثابتیږي اوداد عوی دمولی له طرف ځخه متحققه شوه ولې چې مولی ویلې ووان کان فی بطنک ولد فهومنی ، باقی دتعیین ولدضرورت دی اوهغه بالاتفاق ددایه په ګواهی سره ثابتیږي .

(۲۱)که کوم کس دکوم هلک په باره کې ووېل چې دازمازی دی اوله دي وېنا څخه وروسته وفات شواوس ددي هلک موردعوی وکړه چې زه ددي کس ښځه يم اوداله ماڅخه دده زوی دی نو دا ښځه اوددي زوی دواړه به ددي ميت وارث وي ولي چې دثبوت نسب لپاره نکاح صحيح متعينه ده لهذا دښځې منکوحه والی ثابت شونو کله چې ده دبنوت اقرار وکړنو ماسوم به پرده حمل کېږي ترڅو چې ددي خلاف ظاهرنه وي اوله ماشوم سره به دا ښځه هم وارثه وي.

(۲۲)اوکه دښځې ازادوالی هيچاته معلوم نه وي اودميت وارث يعني زوی دي ښځې ته ووېل چې ته خوزمادپلارام ولدېې منکوحه نه يې نواوس به دي ته ميراث نه ورکول کېږي ولي چې دا ښځه منکوحه نه ده ځکه چې په دارالاسلام کې له اوسيدلو څخه ماسوا ددي حريت هيڅ دليل نشته اوصرف په دارالاسلام کې اوسيدنه ددفع رقيت لپاره خو حجت ده مگر داستحقاق ميراث دپاره حجت نه شي کيدای.

بَابُ الْحَضَانَةِ

داباب دپالنې په بيان کې دی

حضانت بکسر الحاء وفتح الحاء دحضنا مصدردی په معنی دپالنه کول ،له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې دپالنې ضرورت له ثبوت نسب څخه وروسته پيداکيږي لهذا مصنف رحمه الله له ثبوت نسب وروسته دپالنې احکام ذکرفرمايلي دي:

(۱)أَحَقُّ بِالْوَلَدِ أُمُّهُ قَبْلَ الْفُرْقَةِ وَبَعْدَهَا (۲)ثُمَّ أُمُّ الْأُمِّ (۳)ثُمَّ أُمُّ الْأَبِ ثُمَّ الْأُخْتُ لِأَبٍ وَأُمٍّ ثُمَّ لِأُمٍّ ثُمَّ لِأَبٍ (۴)ثُمَّ الْخَالَاتُ كَذَلِكَ ثُمَّ الْعَمَّاتُ كَذَلِكَ (۵)وَمَنْ نَكَحَتْ غَيْرَ مَحْرَمِهِ سَقَطَ حَقُّهَا ثُمَّ تَعُودُ بِالْفُرْقَةِ (۶)ثُمَّ الْعَصَبَاتُ بِتَرْتِيبِهِمْ

ترجمه:دماشوم ترټولوزياته حقداره دده مورده له فرقت څخه وړاندې هم اوله فرقت څخه وروسته هم،بيانادده بيا حقيقي خوربيااخيافي خورده بياعلاتی خورده بياخالې گانې دي همداشان بياعمې دي همداشان،اوکومه ښځه چې نکاح وکړي دماشوم له غيرمحرم سره نوددې حق ساقطيږي بيادفرقت پروخت بيرته راگرځي .بياعصبات دي دميراث په ترتيب سره.

تشريح:(۱)دماشوم دپالنې ترټولوزياته حقداره دده مورده خواه که له فرقت څخه وړاندې وي اوکه له فرقت څخه وروسته وي ،نوکه دزوجينوترمنځ جلاوالی راغی نوبياهم دماشوم زياته حقداره دده مورده ولی چې مورترټولوزياته شفيقه ده اودماشوم په تربيت ښه پوهيږي لهذادماشوم خپلې مورته سپارل دماشوم په حق کې ډيرښه ده ،البته که مورمرتده شوه (العياذبالله)يافاسقه فاجره وي نوبيادي لره دحضانت حق نشته.

(۲)که دماشوم مورنه وي نوانايادانامور(وان بعدت)دماشوم زياته حقداره ده په نسبت دپلار مورته ،وجه يې داده چې داولايت دمورانوله طرف څخه ددوئ دشفقت په وجه مستفاددی لهذاکومه ښځه چې مورته ډيره قريبه وي هغه له هغې ښځې څخه ډيره حقداره ده کومه چې دپلارقريبه وي.

(۳)اوکه اناهم نه وه نوبيادپلارموردخوندوپه نسبت زياته حقداره ده ولی چې انا(دپلارمور)په شفقت کې ترخوندوزياته ده ځکه چې انا(دپلارمور)اصل الولدده يعني دانااوماشوم په منځ کې دولادت

قرابت دی او اناله امهاتو څخه ده او که انا (دپلار مور) هم نه وه نوبیاترخاله ګانو او عمه ګانو خوندي ډيري حقداره دي ولی چې خوندي دخاله ګانو او عمه ګانو په نسبت ډيري قريبې دي ،بیاپه خوندو کې ترټولوزياتې حقداري حقيقي خوندي (کومې چې په موراوپلار دواړوشريکې وي)دي ولی چې حقيقي خوردوه قرابته لري ،بیادمورشريکه خورډيره حقداره ده په نسبت دپلارشريکې خورته ولی چې داحق دمورله جانب څخه دی.

(۴)که خوندي نه وي نوخاله ګانې ډيري حقداره دي په نسبت دعمه ګانولی چې داحق دمورله طرف څخه دی او په خاله ګانو کې دخوندو په شان تفصيل دی ذات القرابتين مقدم دي ترذات قرابت واحده څخه ،بیاقرابت ام مقدم دی ترقرابت اب څخه ،او که خاله ګانې نه وي نوبیاعمه ګانې حقداري دي او په عمه ګانو کې هم هغه تفصيل دی چې ذات القرابتين مقدم دي له ذات قرابت واحده څخه ،اوقرابت واحده کې دام قرابت مقدم دی له قرابت اب څخه.

(۵)په مذکوره بالاښځو کې چې کومې هم دماشوم له غيرمحرم کس سره نکاح وکړه نوددي حق دپالنې ساقطيږي ولی چې نبی کريم ﷺ يوي مورته همدافرمايلي وو چې تاته حق دحضانت حاصل دی ترڅوچې ته نکاح ونه کړې ،همداشان اجنبی کس دي ماشوم ته حقيرشئ ورکوي او په تندنظرورته ګوري لهذاپه دي کې دماشوم رعايت نشته .هوکه دښځې او دهغې ددي خاوندترمنځ فرقت واقع شونواوس دي له دوهم ځل حق حضانت حاصليږي ولی چې اوس مانع پاتې نه شو .نوکه ددي ماشوم انا (دمورمور) ددي ماشوم له نيکه (دپلارپلار)سره نکاح وکړه نوحق حضانت نه ساقطيږي ولی چې جد دماشوم دپلارقائم مقام دی ځکه نودده شفقت باقي پاتې کيږي .همداحال دهرهغه خاوندی کوم چې ددي ماشوم ذورحم محرم وي ولی چې دقربت قريبه په وجه سره شفقت قائم دی .

(۶)قوله ثم الی العصبات ای بعدهؤلاء المذکورات الاحق بالولدالعصبات ،يعنی که دماشوم په خاندان کې دده دپالنې کومه ښځه نه وي بياناريته ودده په پالنه کې اختلاف وکړنوپه نارينه وکې دپالنې ترټولوزيات حقدارهغه دی کوم چې په عصبه والی کې دماشوم ډيرقريب وي ولی چې دولايت حق ډيرقرابت لرونکې لره وي اوعصبات بترتيب ارث الاقرب فالاقرب ته حق دحضانت حاصل دی نودماشوم ډيرحقدارپلاربیانيکه بیابرجدالی اخره دی بياوروربيادهغه اولاد، بيا اعمام بيادهغواولادونه ،البته ماشومه به عصبه غيرمحرم (لکه مولی عتاقه اوابن العم)ته نه سپارل کيږي تحرزاعن الفتنة.

(۷)وَالأُمُّ وَالجَدَّةُ أَحَقُّ بِهِ حَتَّى يَسْتَغْنِيَ، وَقُدِّرَ بِسَبْعِ سِنِينَ (۸) وَبِهَا حَتَّى تَحِيضَ (۹) وَغَيْرُهُمَا أَحَقُّ بِهَا حَتَّى تُشْتَهَى (۱۰) وَلَا حَقَّ لِلأَمَةِ وَأُمِّ الوَلَدِ مَا لَمْ يُعْتَقَا (۱۱) وَالذِّمِّيَّةُ أَحَقُّ بِوَلَدِهَا المُسْلِمِ مَا لَمْ يَعْقِلْ دِينًا (۱۲) وَلَا خِيَارَ لِلوَلَدِ (۱۳) وَلَا تُسَافِرُ مُطَلَّقَةٌ بِوَلَدِهَا إِلَّا إِلَى وَطَنِهَا, وَقَدْ نَكَحَهَا ثَمَّ

ترجمه :اوموراوانادماشوم زياتې حقداراي دي ترڅوچې ماشوم مستغنی کيږي اوددي اندازه په اووکلونوسره لګول شوي ده ،اودماشومې حقداري دي ترڅوچې دي ته حيض ورتلل شروع شي .اوله دي دواړوڅخه علاوه ښځې حقداري دي ترڅوچې هغه حدشهوت ته ورسيږي ،اودمينځې اوام ولدهيڅ حق نشته ترڅوچې هغه ازادي نه شي ،اوذميه دخپل مسلمان ماشوم زياته حقداره ده ترڅوچې هغه په دين نه

پرېږدي ،او ماشوم له هيڅ اختيار نشته ،او مطلقه ښځه به ماشوم په سفر نه بيايي مګر خپل هغه وطن ته په کوم کې چې خاوند له دي سره نکاح کړي ده .

تشريح :(۷) مور او انا د ماشوم تر هغه وخته پوري حقداره ده چې ماشوم مستغني شي په دي ډول چې هغه يوازې خورک څښنک وکړای شي او يوځې په خپله جامې په تن کړي او يوځې په خپله استنجاء وکړای شي ولې چې کمال استغناء په قدت على الاستنجاء سره حاصليږي د دي اندازه په او وکاله سره لګول شوي ده يعنې تر اوو کلونو پوري به ماشوم د مور او انا په پرورش کې پاتې کيږي .له دي څخه وروسته به ماشوم پلار ته سپارل کيږي ولې چې اوس ماشوم د نارينه واخلاقو او ادابو د زده کولو محتاج دی او د ماشوم په مهذب جوړولو باندي پلار ښه قادر دی .

(۸)قوله وبهاحتى تحيض اى الام والجدة احق بالجارية حتى تحيض ،يعنې مور او انا د انجلۍ تر هغه وخت پوري حقداري دي تر کله چې دي ته حيض ورځې يعنې بالغه شي ولې چې له بلوغ څخه دي لره د نکاح په ذريعه د محصنه کولو او له زنا څخه د محفوظ کولو ضرورت دی او پلار د مور او انا په نسبت په دي ډير قدرت لري .له امام محمد رحمه الله څخه يو روايت دا دی چې کله حد شهوت ته ورسيږي نو پلار زيات حقدار دی علماؤ په دي زمانه د فساد کې همدا قول مفتى به بللى دى لمافى الدرالمختار:(والام والجدة)لام او لاب (احق بها)بالصغيرة (حتى تحيض)........(وغيرهمااحق بهاحتى تشتهى) .... (وعن محمدان الحكم فى الام والجدة كذالک)وبه يفتى لكثرة الفساد:(الدارالمختار:على هامش ردالمحتار:۲/۶۹۵)

(۹)له ام او جدة څخه ماسونور ي ښځې (کوم ته چې حق د پالنې حاصل دی)د انجلۍ د پرورش تر هغه وخت پوري زياتې حقداري دي تر څو چې هغه حد شهوت ته ورسيږي چې د هغه اندازه نهه کاله مقرره شوي ده وجه يې دا ده چې ماشوم که څه هم د ښځو د ادابو د زده کولو ته محتاجه ده مګر په ادب ورزده کولو کې يو قسم خدمت اخيستلو ته ضرورت پيدا کيږي او له مور او انا څخه ماسوا نورو ته شرعاً د خدمت اخيستلو حق نشته نو حد شهوت ته تر رسيدلو وروسته له نورو ښځو سره پريښودلو کې مقصود يعنى اداب ورزده کول فوت کيږي . .

(۱۰)له ازادي څخه وراندي مينځې او ام ولد ته د ماشوم د پالنې هيڅ حق نشته ولې چې دا دواړه د مولى په خدمت د مشغول والي په وجه سره د ماشوم له پالنې څخه عاجزه دي .همدا راز په حضانت کې يو قسم ولايت دی حال دا چې دوئ لره په خپلو نفسو ولايت نشته نو په غير خو به په طريقه اولى سره نه وي ،هو که مينځه د دي مولى ازاده کړه همدا شان کله چې ام ولد ازاده کړای شي نو دا ازادو ښځو په څير دوئ دواړه ته هم د ماشوم د پالنې حق حاصل دی ولې چې د حق حضانت د ثبوت پروخت دوئ دواړه ازادي دي .

(۱۱)که مسلمان کس له کومې ذميه کتابيه ښځې سره نکاح وکړه بيا د دي ماشوم وزيږيد نو د ماشوم خير الابوين يعنى مسلمان پلار د تابع کيدلو په وجه سره مسلمان دی مګر د دې د پروش زياته مستحقه د ده مور ده .ليکن دا تر هغه پوري ده تر کله چې په ماشوم کې د دين پوهه پيدا نه شي او د ماشوم له کفر سره د مانوس کيدلو خطره نه وي ولې چې په دي حالت کې د ماشوم مورته په سپارلو کې پرده شفقت دی

اوله دي حالت څخه وروسته ضرردی (يعني له كفرسره دمانوس كيدلو احتمال دی) ځكه به له ذميه مور څخه اخيستل كيږي او مسلمان پلار ته به ورکول كيږي.

(۱۲) يعني ماشوم لره له مور او پلار څخه دخپل پرورش لپاره ديوه دخوښولو اختيارنه دی ولی چې دغير رشيد والی په وجه سره دماشوم په خوښه اعتماد نه شي كيدالی او ماشوم دخپلې كم عقلی په وجه سره هغه اختياروي كوم چې دی بازی كولو ته ازادپريږدي ښكاره خبره ده چې په داسې كولو كې پرده هيڅ شفقت نشته .دامام شافعي رحمه الله په نزد ماشوم او ماشومې لره مذكوره بالا اختيار شته ولی چې نبی كريم ﷺ يوه هلک ته دا اختيار وركړی وو .مګر احناف دنبی كريم ﷺ دا عمل له بلوغ څخه په وروسته باندې حمل كوي.

(۱۳) له عدت پوره كيدلو څخه وروسته كه مطلقه ښځې وغوښتل چې ماشوم له دې ښار څخه كوم بل ښار ته بوځې نو دې لره دا اختيار نشته ولی چې په دې صورت كې دپلار له خپل زوی څخه دبې خبرې په وجه سره دپلار ضرر دی .البته كه ښځې دا ماشوم خپل هغه وطن ته بيول غوښتل په كوم كې چې خاوند له دې سره نكاح كړې وه نو ښځې لره ددې اختيار شته ولی خاوند چې په كوم ښاركې نكاح كړې ده دا شرعاً او عرفاً پر خپل ځان هلته قيام كول لازم كړي وو عرفاً ځكه چې خاوند عادةً په هغه ښاركې قيام كوي په كوم كې چې نكاح كوي ،او شرعاً ځكه چې دنبی كريم ﷺ ارشاد دی ﴿من تاهل ببلدة فهو منهم﴾ (يعني څوک چې په كوم ښاركې نكاح وكړي نو هغه هم له هغو څخه دی.

بَابُ النَّفَقَةِ

داباب دنفقاتو په بيان كې دی

نفقه په لغة كې هغه څه دی كوم چې انسان پر خپل عيال مصرفوي ،او شرعاً طعام ،جامو او سكنی ته ويل كيږي ،دنفقې دوجوب دري اسباب دي ،زوجيت ،قرابت ،ملک ،بيا زوجيت اصل النسب دی او نسب اقوی من الملک دی ځكه مصنف رحمه الله د زوجيت بيان شروع كړ.

له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې كله مصنف رحمه الله دنكاح او طلاق له مباحثو څخه فارغ شو نو دنفقاتو بيان يې شروع كړ په كوموكې چې نفقة المنكوحة ونفقة المطلقة او نفقه المحارم هم ده كومې چې له ناح سره متعلق دي.

په وجوب نفقه كې اصل دباری تعالی دا ارشادی دی ﴿لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ﴾ وقوله تعالی ﴿وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ وقوله ﷺ في حديث حجة الوداع ﴿وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ﴾ همدارازنفقه د احتباس بدله ده او قاعده ده چې كوم څوک چې دبل چا په مقصود دي حق كې محبوس وي نو د محبوس نفقه پر هغه وي.

(۱)تجب النفقة للزوجة على زوجها ,والكسوة (۲)بقدر حالهما (۳)ولو منعت نفسها للمهر (۳)لا ناشزة (۵)وصغيرة لا توطأ (٦)ومحبوسة بدين ومغصوبة وحاجة مع غير الزوج ومريضة لم تزف (۷)ولخادمها لو موسرا

ترجمه :واجب دده نفقه دښځې ددي پرخاوند اوجامې ،ددوارو دحال مطابق ،اګركې دي خپل ځان منع كړى وي دمهرپه وجه سره ،نه هغه چې نافرمانه وي ،يادومره كوچنى وي چې له دي سره وطى نه شي كيدلى ،يابندي وي دقرض په وجه يامغصوبه وي ياحج كونكې وي له غيرخاوندسره ،ياناروغه وي چې خاوندته نه وي حواله شوي ،اوددي خادم نفقه كه خاوندغني وو.

تشريح :(۱)دښځې نفقه اوددي لباس ددي پرخاوندواجب دى كه څه هم خاوندصغيريافقيروي اوښځه كه مسلمانه وي اوكه كتابيه وي فقيره وي اوكه مالداره وي .موطؤه وي اوكه غيرموطؤه وي ،په دي شرط چې داخپل ځان دخاوندكورته وسپاري نوپرخاونددي ماكولات ،مشروبات ،جامې اوسكنى واجب ده ولى چې نفقه دحبس عوض ده اوكوم څوک چې دبل چادمقصودى حق په وجه محبوس وي نودهغه نفقه هم پرده وي ،اوښځه څرنګه چې دخاوندلپاره محبوسه ده لهذادښځې نفقه به هم ددي پرخاوندواجب وي :

(۲)قوله بقدر حالهما اى تجب النفقة والكسوة لها على الزوج بقدر حالهما ،يعنى دنفقه په مقداركې به له زوجينوڅخه دكوم يوه حال معتبروي ؟مصنف رحمه الله فرمايي چې ددوارزوجينوحال معتبردى همدا قول دامام خصاف مختاردى اوهمدا قول مفتى به دى لماقال العلامة ابن عابدين :(قوله وبه يفتى)كذافى الهداية وهوقول الخصاف وفى الولوالجية وهوالصحيح وعليه الفتوى(ردالمحتار:۲/۱ ۰ ٧)

ددي قول عقلاً څلورصورتونه جوړيږي :نمبر۱.زوجين دواړه مالداره وي .نمبر۲.دواړه مسكينان وي .نمبر۳.خاوندغنى اوښځه مسكينه وي .نمبر۴.ښځه مالداره اوخاوندمسكين وي .په اولنى صورت كې دمالدارى نفقه واجب ده په دوهم صورت كې دمسكينى نفقه واجب ده اوپه دريم اوڅلورم صورت كې اوسط درجه نفقه واجب ده ،دامام كرخي اومام شافعي په نزددزوج حال معتبردى لقوله تعالى ﴿ولينفق ذوسعة من سعته﴾.

(۳)قوله ولو منعت نفسها للمهر اى تجب النفقة لها وان امتنعت من تسليم نفسها لاجل قبض المهر ،يعنى دښځې نفقه لازمه ده كه څه هم ښځه دخپل ځان خاوندته له سپاره څخه منع وكړي ترڅوچې خاونددي مهرمعجل اداء كړي يعنى كه ښځې دخپل مهرمعجل دعدم اداء په وجه سره خپل ځان خاوندته له سپارولوڅخه منع كړنوپه دي صورت كې دښځې نفقه نه ساقطيږي بلكه نفقه وركول پرخاوندواجب ده ولى چې دښځې خپل ځان منع كول دخپل حق په وجه سره دى نوداحتباس فوتيدل په داسې وجه سره متحقق شوكومه چې دخاوندله طرفه پيداشوي ده نوګويااحتباس نه ده فوت شوى لهذاددي نفقه هم نه ساقطيږي .

(۴)قوله ولاناشزة اى لاتجب النفقة والكسوة لوكانت ناشزة ،يعنى كه ښځې په سركشى كولوسره دخاونددله كوره ووته نودي لره نفقه نشته ولى چې احتباس دي په خپله ختم كړى ـ ى ا، ننته دهمدي احتباس عوض وه ليكن كه دادخاوندكورته په راتلوسره بيرته محبوسه شوه بيابه دي لره نفقه واجبه وي .

(۵)قوله وصغيرة اى لاتجب النفقة اذا كانت المرأة صغيرة لاتوطأ ،يعنى كه ښځه دومره كوچنى واي چې له دي سره جماع نه شي كيدلى نودي لره پرخاوندنفقه واجبه نه ده كه څه هم دا خپل ځان خاوند ته وسپاري ولى چې

نفقه دداسې احتباس په عوض كې واجبيږي چې په هغه احتباس سره خاوند فائده حاصله كړي حال داچې دصغيرې احتباس په دې ډول نه دى .اوكه خاوند كوچنى وي په وطى قدرت نه لري او ښځه بالغه داستمتاع قابله وي نودې ښځې لره دخاوند په مال كې نفقه واجبه ده ولې چې ښځې خپل ځان سپارلى دى اوقابل استمتاع هم ده عجزدخاوند له طرف څخه دى دښځې له طرف څخه نه دى .

(۶) قوله ولو محبوسة بدين اى لاتجب النفقة لو كانت محبوسة بدين ،يعنى كه ښځه مقروضه وي قرض خواه دقرض په وجه سره بندي كړه ،يا ښځه چاپه زورسره غصب كړه ،يا ښځه (له خپل خاوند څخه ماسوا) له كوم غيرمحرم سره دحج په سفرولاړه نوپه دې درې واړه صورتونوكې هم ښځې لره نفقه نشته ولې چې نفقه داحتباس په بدله كې وي دلته احتباس باقى نه دې پاتې ،مګردامام ابويوسف رحمه الله په نزد مغصوبې اوله محرم سره دحج په سفرتلونكې ښځې لره نفقه شته ولې چې پرخپله ذمه لازم كوم فرض عمل سرته رسول عذردى .

(۷) قوله ومريضة لم تزف اى لاتجب ايضااذاكانت مريضة لم تنقل الى منزل الزوج ،يعنى كه ښځه ناروغه وي اوتراوسه پورې دخاوندكوته نه وي راغلى نودې لره هم پرخاوند نفقه واجب نه ده ولې چې نفقه داحتباس په بدل كې وي دلته احتباس نشته ،هوكه ښځه دخپل خاوندپه كوركې ناروغه شوه نودې لره استحسانا نفقه واجب ده ولې چې احتباس قائم دى ځكه چې خاوندپه مريضه ښځه سره الفت حاصلوي اوددې په مس كولوسره خونداخلې اوهغه دده دكورحفاظت كوي اودوطى منع دعارض په وجه سره ده لهذا دامرض له حيض سره مشابه شوځكه نودې لره نفقه واجب ده .

(۸) قوله ولخادمهالوموسرا اى تجب على الزوج النفقة لخادمهالوموسرا ،يعنى كه خاوند مالداروونوپرده دښځې دخادم نفقه هم واجب ده ولې چې پرخاوند دښځې كفايت واجب دى اودخادم نفقه دښځې دكفايت تكميل دى ولې چې ښځې لره دخادم وجودضروري دى ،بيادطرفينوپه نزدله يوه خادم څخه دزياتونفقه پرخاوندنه ده واجبه ولې چې يوخادم دكوردننه اوله كورڅخه دباندې دواړه كارونه پوره كولى شي لهذاددوخادمانوضرورت نشته .حال داچې دامام ابويوسف رحمه الله په نزدپرخاونددښځې ددوخادمانونفقه واجب ده ولې چې يوخادم دكوردننه اوبل خادم له كورڅخه دباندې كارونه كوي .

(۹) وَلَا يُفَرَّقُ بِعَجْزِهِ عَنِ النَّفَقَةِ ,وَتُؤْمَرُ بِالِاسْتِدَانَةِ عَلَيْهِ (۱۰) وَتُتَمَّمُ نَفَقَةُ الْيَسَارِ بِطُرُوِّهِ ,وَإِنْ قَضَى بِنَفَقَةِ الْإِعْسَارِ (۱۱) وَلَا تَجِبُ نَفَقَةٌ مَضَتْ إلَّا بِالْقَضَاءِ أَوِ الرِّضَا وَبِمَوْتِ أَحَدِهِمَا تَسْقُطُ الْمَقْضِيَّةُ (۱۲) وَلَا تُرَدُّ الْمُعَجَّلَةُ

ترجمه: اوجلا والى به نه كول كيږي دخاوندله نفقې څخه دعاجزوالى په وجه سره اوحكم به كيږي ښځې لره دخاوندپه نامه دقرض اخيستلو ،اوپوره كيږي به دوسعت نفقه كه وسعت پيداشوكه څه هم قاضي حكم كړى وي دمسكينى دنفقې ،اونه واجبيږي دتيرې شوې زمانې نفقه مګرپه قضاء قاضي سره ياپه رضاسره ،اودكوم يوه په مرګ سره مقرره شوې نفقه ساقطيږي ،اونه دربيږي مخكنى نفقه .

تشريح: (۹) كوم كس چې خپلې ښځې ته له نفقې وركولوڅخه عاجزشونودې په وجه سره به دزوجينوپه منځ كې تفريق نه كيږي بلكه قاضي به ښځې ته ووايې چې دخپل خاوندپرذمه قرض واخله يعنى په دې شرط دخوړك سامان واخله چې قيمت به يې خاوندادا كوي يابه دخاوندپه مالداره كيدلوسره دده له مال څخه

قرضه اداء کي.ي ولی چې په تفريق کولو کې دخاوند حق بالکليه باطليږي اوپه قرض اخيستلو کې دښځې په حق کې صرف تاخير راځي اودتاخيرحق ضررپه نسبت دبطلان حق کم دی لهذا ادا اولی ده .

(۱۰)که خاوند مالدارشونواوس به دي دمالداری په حيثيت سره نفقه ورکوي که څه هم له دي ځخه ورانديي قاضي پرده دمسکنت نفقه مقرره کړي وي ولی چې دفراخی اوتنګی په موافق نفقه بدليږي رابدليږي له دي ځخه وړاندي چې کومه نفقه قاضي مقرره کړي وه هغه خودتنګی دحالت نفقه وه دمسکينی دعذرپه وجه سره مقررشوي وه اوس چې کله دخاوند حال بدل شونوعذرباقی پاتې نه شو لهذا ښځه دځپل پوره حق مطالبه کولی شي .

(۱۱)که يو څه زمانه تيره شوه اوخاوند خپلې ښځې ته نفقه ورنه کړه بيا دي له خاوند ځخه ددي زمانې دنفقې مطالبه وکړه نوښځې لره به هيڅ نه ورکول کيږي ولی چې په نفقه کې دعطيه معنی موجوده ده لهذادنفقې وجوب مستحکم نه دی چې پرخاونددباندې قرض پاتې شي .البته که قاضي ښځې لره پرخاوندنفقه فرض کړه ،ياښځې له خاوندسره په يوخاص مقدار په صلح کولوسره خاوندراضی کړاوس ځه زمانه بغيرله نفقې ځخه تيره شوه نوقاضی به ده ته دتيري شوي زمانې دنفقې داداء کولوحکم وکړي ولی چې کله دقاضی دقضاء يامصالحت په وجه سره نفقه دخاوندپه ذمه دين شوه نواوس دزمانې په تيريدلوسره نه ساقطيږي .البته که له زوجينوځخه کوم وفات شويادداوئ په منځ کې فرقت واقع شونودتيري شوي زمانې نفقه ساقطيږي ولی چې دايوقسم عطيه ده کومه چې دهبې په شيرپه مرګ سره ساقطيږي .

(۱۲)که خاوندخپلې ښځې ته ديوه کال نفقه ورکړه بياله زوجينوځخه کوم يووفات شونود شيخينوپه نزدبه له ښځې ځخه يادي له ترکې ځخه ځه واپس نه اخيستل کيږي ولی چې نفقه عطيه ده په کومې چې قبضه راغلي ده اوعطيات بعدالموت واپس نه اخيستل کيږي ولی چې ددي حکم انتهاء ته رسيږي ،دامام محمد رحمه الله په نزدځومره زمانه چې تيره شوي ده دهغې دنفقې حساب به وکړای شي اوښځې ته پرېښودل شي اوباقی به خاوندته واپس کړای شي .

ف:دشيخينوقول مفتی به دی لمافی الدرالمختار .(ولاترد النفقه والکسوة (المعجلة) بموت اوطلاق عجلهاالزوج اوابوه ولوقائمة به يفتی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۲/۷۱۶)

(۱۳)وَيُبَاعُ القِنُّ فِي نَفَقَةِ زَوْجَتِهِ (۱۴)وَنَفَقَةُ الأَمَةِ المَنْكُوحَةِ إِنَّمَا تَجِبُ بِالتَّبوِئَةِ (۱۵)وَالسُّكْنَى فِي بَيْتٍ خَالٍ عَنْ أَهْلِهِ وَأَهْلِهَا (۱۶)وَلَهُمُ النَّظَرُ وَالكَلَامُ مَعَهَا (۱۷)وَفُرِضَ لِزَوْجَةِ الغَائِبِ وَطِفْلِهِ وَأَبَوَيْهِ فِي مَالٍ لَهُ عِنْدَ مَنْ يُقِرُّ بِهِ وَبِالزَّوْجِيَّةِ ,(۱۸)وَيُؤْخَذُ كَفِيلٌ مِنهَا

ترجمه:اوغلام به خرڅيږي به دده دښځې په نفقه کې ،اودمنکوحه ښځې نفقه واجبيږي په شب باشي کولوسره ،اوپه داسې کورکې اوسول کوم چې دزوج اوو جې له اهل ځخه خالي وي ،اودښځې دکورنۍ والاته جائزده دي ته کتل اوله دي سره خبري کول ،اومقرره کيږي به دغائب کس دښځې اودده دماشومانواومورا وپلارنفقه دده په مال کې کوم چې له داسې کس ... ي چې هغه دمال اووجيت اقرارکوي ،اواخيستل کيږي به له ښځې ځخه ضامن .

تشريح :(۱۳)که غلام دمولی په اجازه سره له کومې ازادي ښځې سره نکاح وکړه نوددي ښځې مقرره نفقه به ددي غلام پرذمه قرض وي ولی چې ددي قرض سبب يعنی نکاح موجوده ده اودا وجوب دمولی په حق کې

ظاهردی ولی چې مولی دنکاح په اجازه ورکولوسره په خپله ددي التزام کړی دی نودنوروپورونو په شان به داهم دده په حق کې ظاهروي .لیکن که مولی دنکاح اجازه نه وي ورکړي نوپرغلام دښځې نفقه لازمه نه ده ولی چې دانکاح صحیح نه ده لهذانفقه هم نه واجبیږي .

(۱۴)که ازادکس دکوم بل چاله مینځې سره نکاح وکړه نودداسې مینځې نفقه په بیتوتت سره واجبیږي یعنی که مولی خپله مینځه ددي له خاوندسره په جلاځای کې شپه تیرولوته پریښودله نوپر خاونددي نفقه واجب ده ولی چې دمینځې له طرفه احتباس متحقق شواونفقه داحتباس عوض ده،او که مولی جلااوسیدلوته پري نه شودله نوپرخاوندنفقه واجب نه ده ولی چې احتباس نه دی متحقق شوی.

(۱۵)قوله والسکنی فی بیت الخ عطف علی قوله تجب النفقة ای تجب السکنی ایضا فی بیت خال الخ ،یعنی په خاوند واجب ده چې دی خپله ښځه په داسې جلامکان کې واوسوي چې په هغه کې نه دخاونددکورنی له والا ووڅوک اوسیږي انه دښځې له کورنی څخه څوک اوسیږي لقوله تعالی ﴿ أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم ﴾ (یعنی دوئ ته داوسیدلومکان ورکړئ چیرته چې تاسې اوسیږی)،نوکله چې ښځې لره سکنی ثابته شوه نود خاوندکوم بل چاله دي سره په شریکولوکې ددي اضراردی. هوکه ښځې په خپله دخاونددکورنی سره یوځای اوسیدل خوښ کړل نودي لره اختیارشته ولی چې دادخپل حق په کمي باندي په خپله راضی شوه .

(۱۶)که دکومې ښځې موراوپلاراوقریبان په کوم وخت کې له دي سره لیدل غواړي یاخبري کول غواړي نودادوئ لپاره جائزدی خاونددوئ له دي سره له لیدلواوله دي سره له خبروکولونه شي منع کولی ولی چې له دي څخه قطع کلامی لازمیږي اوقطع رحمی حرام ده اوخاوندپه دي کې هیڅ ضررهم نشته .

ف:ځینې علماء کرام فرمایي چې خاوندښځې لره خپلووالدینوته له ورتللواوددي والدینولره دي ته له راتللوڅخه په هره جمعه کې یوځل نه شي منع کولی اوله والدینوڅخه ماسوانورو قریبانوته په کال کې یوځل دملاقات کولواجازه شته .البته خاوندلره دااختیارشته چې دی دخپلې ښځې والدین اونورو قریبان ته له راتلوڅخه منع کړي ولی چې داکوردخاوندذاتی ملک دی لهذاده لره په خپل کې له راتلو څخه دمنع کولواختیارحاصل دی .

(۱۷)که خاوندغائب شواودده څه مال دبل کس په قبضه کې ووا وهغه ددي مال اقرارکوي اوداهم اقرار کوي چې دابنځه ددي غائب کس ښځه ده نوقاضی به په دي مال کې ددي غائب کس دښځې اودده دنابالغ اولاد اودده دوالدینونفقه مقرره کړي .همداشان که قاضی لره علم وو نوکه څه هم هغه کس له کوم سره چې مال دی اقرارهم نه وي کړی نوبیابه هم قاضی دغائب دمذکوره قریبانولپاره په دي مال کې نفقه مقرروي ولی چې دقابض په اقراریادقاضی په علم سره معلومه شوه چې دي ښځې لره له دي مال څخه دخپلې نفقې داخیستلوحق حاصل دی.

(۱۸)لیکن قاضی به احتیاطاله دښځې څخه کفیل اخلې اوښځه به په دي خبره قسم هم خوري چې دد ي خاونددي لره نفقه نه ده ورکړي .دداد غائب درعایت له وجه دي ولی چې کیداشې چې دي له خپل

خاوند څخه خپله نفقه وصول کړي وي یا خاوند دي لره طلاق ورکړی وي او عدت تیر شوی وي ، او د ابلا وجه په خاوند باندې معامله مشتبه کوي او دوهم ځل نفقه اخلي .

ف: قاضي به د غائب په مال کې د مذکوره کسانو (ښځې ، والدین ، اولاد صغار) ماسوا د هیڅ چا د نفقې حکم نه شي ورکولی ولې چې د ښځې وغیره نفقه د قاضي له حکم کولو څخه وړاندې واجب وه همدا وجه ده چې دا کسان د قاضي له حکم څخه وړاندې خپله نفقه وصول کولی شي مګر څرنګه چې د غائب په مال قابض دي کس دوئ ته نه ورکوله ځکه نو د قاضي حکم دوئ لره اعانت ثابت شو ، پاتې شو نور قریبان نو د هغوئ نفقه په قضا قاضي سره واجبیږي او د قاضي قضاء پر غائب جائز نه ده .

(۱۹)وَلِمُعْتَدَّةِ الطَّلَاقِ(۲۰)لَا لِلْمَوْتِ(۲۱)وَالْمَعْصِيَةِ(۲۲)وَرِدَّتُهَا بَعْدَ الْبَتِّ تُسْقِطُ نَفَقَتَهَا لَا تَمْكِينُ ابْنِهِ(۲۳)وَلِطِفْلِهِ الْفَقِيرِ(۲۴)وَلَا تُجْبَرُ أُمُّهُ لِتُرْضِعَ(۲۵)وَيَسْتَأْجِرُ مَنْ تُرْضِعُهُ عِنْدَهَا(۲۶)لَا أُمَّهُ لَوْ مَنْكُوحَةً أَوْ مُعْتَدَّةً(۲۷)وَهِيَ أَحَقُّ بَعْدَهَا مَا لَمْ تَطْلُبْ زِيَادَةً

ترجمه: او (نفقه واجب ده) د طلاق عدې تیرونکې لره ، نه د مرګ عدې تیرونکې لره ، او د ښځې له طرف څخه د معصیت په وجه سره عدت تیرونکې لره ، او د ښځې مرتده کیدل له بینونت څخه وروسته ساقطوي د ښځې نفقه نه ابن زوج لره په خپل ځان قدرت ورکول ، او (نفقه واجب ده) د خپل فقیر ماشوم لپاره ، او مجبوره کولی به نه شي مور خپل ولد ته په شیدو ورکولو ، او په اجرت دي ونیسي داسې ښځه چې هغه شیدې ورکړي ماشوم ته د ده له مور سره ، نه د ماشوم مور لره که هغه منکوحه یا معتده وي ، او مور دیره حقداره ده له عدت څخه وروسته تر څو چې ډیر اجرت ونه غواړي .

تشریح: (۱۹) قوله ولمعتدة الطلاق ای تجب النفقة لمعتدة الطلاق ، یعنی که چا خپلې ښځې ته طلاق ورکړ خواه که طلاق رجعي وي که طلاق بائن په دواړو صورتونو کې د ښځې په عدت کې ښځې لره نفقه او سکنی واړه واجب دي ولې چې د طلاق رجعي په صورت کې خو نکاح قائمه ده ځکه نفقه واجب ده او د طلاق بائن په صورت کې په دې وجه نفقه واجب ده چې نفقه د احتباس عوض ده او احتباس د مقصود بالنکاح (یعنی ماشوم) په حق کې اوس هم شته ولې چې عدت د ماشوم د حفاظت لپاره واجب شوی دی نو د وجود احتباس په وجه سره ښځې لره نفقه واجب ده .

ف: امام شافعي رحمه الله فرمایي کومې ښځې ته چې خاوند طلاق بائن یا درې طلاقه ورکړې وي یا یې خلع کړې وي هغې لره نفقه او سکنی نشته ولې چې فاطمه بنت قیس رضی الله عنها فرمایي چې زما خاوند ماته درې طلاق راکړل ، رسول الله ﷺ ماته نه نفقه فرض کړه او نه سکنی ، احناف ځواب ورکوي چې د احدیث حضرت عمر رضی الله عنه ردکړی وو فرمایي چې مونږ د خپل رب کتاب او د خپل نبی کریم ﷺ سنت د یوې ښځې په وینا سره نه پریږدو مونږ نه پوهیږو چې دا رشتیا وایي او که دروغ او دي ته یا د دي او که یې هیر شوي دي ، ما له نبی کریم ﷺ څخه واوریدل ، نبی کریم ﷺ فرمایل چې کومې ښځې ته درې طلاقه ورکړل شي هغې لره نفقه او سکنی دواړه واجب دي تر څو چې په عدت کې وي ، نور و هم کبار صحابه کرامو رضی الله عنهم لکه حضرت عبدالله بن مسعود ، حضرت زید بن ثابت ، حضرت اسامه بن زید او حضرت عائشه رضی الله عنها د احدیث رد کړی دی .

(۲۰)قوله لا الموت ای لاتجب النفقة للمتوفی عنهازوجها ،یعنی که دکومې ښځې خاوند وفات شونو دې لره نفقه نشته ولې چې نفقه شیئا فشیئا (لږلږ) واجبیږي او له مرګ څخه وروسته خاوند مال نه لري چې په هغه کې نفقه واجب شي او د ورثه په ملک کې نفقه واجبول ممکن نه دي .

(۲۱)قوله والمعصیة ای لاتجب النفقة للمعتدة المعصیة ،یعنی کوم فرقت چې د ښځې له طرفه د معصیت په وجه سره راغلی مثلا ښځه مرتده شوه یا یې د خپل خاوند زوی ته پرخپل ځان قدرت ورکړنو دې ښځې لره نفقه نشته ولې چې داخپل نفس لره بلاوجه او ناحق منع کونکې ده نو دا داسې شوه لکه چې دې نافرمانې کړي وي او له کور څخه وتلې وي .

(۲۲)که خاوند خپلې ښځې ته بائن طلاق ورکړله دې څخه وروسته دا (العیاذبالله)مرتده شوه نو د دې ښځې نفقه ساقطیږي ،او که له طلاق څخه وروسته ښځې ابن الزوج ته پرځان قدرت ورکړنو دې ښځې لره به نفقه واجب وي ولې چې په دواړو صورتونو کې فرقت خو په طلاق سره ثابت شو دارتداد او ابن الزوج لره پرځان د قدرت ورکولو په دې فرقت کې هیڅ دخل نشته ،هو کومه ښځه چې مرتده شوه هغه به بندي خانې ته اچول کیږي ترڅو چې توبه وکړي او قیدی ښځې لره نفقه نه وي او کومې ښځې چې ابن الزوج ته پرځان قدرت ورکړی دی هغه نه بندي کیږي لهذا دې لره نفقه شته .

ف :او که یې ابن الزوج ته له طلاق څخه وړاندې پرځان قدرت ورکړنو دې ښځې لره به نفقه نه وي ولې چې فرقت په قدرت ورکولو سره راغلی دی کوم چې داسې فرقت دی چې د ښځې له طرف څخه د معصیت په وجه راغلی دی په کوم کې چې نفقه نه وي .

(۲۳)قوله ولطفله الفقیر ای تجب النفقة علی الاب لطفله الفقیر ،یعنی د نابالغ اولاد (په داسې حال کې چې هغوئ فقراء احراروي) نفقه صرف د دوئ پرپلار واجب ده په دې کې له پلار سره هیڅ څوک شریک نه دی لکه چې د ده د ښځې په نفقه کې له ده سره هیڅ څوک شریک نه وي لقوله تعالی ﴿وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ (یعنی د والداتو حق پر مولود له (زوج) باندې واجب دی)او د والداتو رزق د ولد په وجه سره واجب دی نو کله چې د ولد په وجه پرپلار د والداتو رزق وجب دی نو د ولد رزق خو به په طریقه اولی سره پرده واجب وي .

ف :د دیني علم طالب که څه هم بالغ وي د دې نفقه د ده پرپلار واجب ده په دې شرط چې فقیروي او په طلب علم کې کوتاهی نه کوي لکه څرنګه چې عموما نن صباد طالبانو حالت دی له تضییع الوقت څخه ماسوا کوم بل کار نشته .(احسن الفتاوی :۵/۴۶۱)

(۲۴)که کوچنی شیدې خوړونکی وي نو د ده موربه په شیدو ورکولو نه شي مجبوره کیدای ولې چې قضاء د ده پرموردې ماشوم لره شیدې ورکول واجب نه دي ولې چې شیدې ورکول د نفقه قائم مقام دي او د صغیر نفقه په پلار واجب ده کوم بل څوک له ده سره شریک نه دی البته دیانة به ښځې ته د شیدو ورکولو امر کیږي ولې چې دا له باب استخدام څخه دی لکه د کور جارو کولو او د ودی پخولو چې دې ته دیانة امر کیږي .

(۲۵)داپه مخکنی مسئله تفريع ده يعني پلاردي ماشوم ته دشيدوورکولولپاره داسې ښځه په اجرت ونيسي کومه چې دماشوم له مورسره په اوسيدلو ماشوم ته شيدي ورکړي ،مگرداهلته ده چيرته چې مرضعه پيداکيږي اوکه چيرته مرضعه نه پيداکيدله نوبيابه مورپه شيدوورکولومجبوره کيږي ،اوله مورسره په اوسيدلو ماشوم ته دشيدوورکولووجه داده چې دپرورش کولوحق مورلره دی .

(۲۶)قوله لاامه اى لايستاجرالاب ام الطفل لارضاعه ،يعني که خاوند دخپل ماشوم موردشيدو ورکولولپاره په اجرت ونيوله حال داچې داپه دي وخت کې دخاوندپه نکاح کې ده يادهغه دطلاق په عدت کې ده نودي لره په اجرت نيول جائزنه دي ولی چې ديانة پرښځې شيدي ورکول واجب دي لقوله تعالى ﴿ وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ ﴾،مگرباحتمال عذرد امعذوره گڼل شوي ده نوکله چې دي په اجرت سره په شيدو ورکولواقدام وکړنوظاهره شوه چې داپه شيدوورکولوقادره ده ځکه پردي شيدي ورکول واجب دي اوپرخپله ذمه دواجب عمل اداء کول اجرت نه واجبوي .

(۲۷)له عدت تيرولوڅخه وروسته دماشوم موردماشوم ته دشيدوورکولولپاره په اجرت نيول ترکومې بلې ښځې ډيره حقداره ده يعني که له عدت څخه وروسته دماشوم مورپه اجرت سره په شيدو ورکولوراضی شوه نوپه دي صورت کې د ماشوم مورډيره مستحقه ده چې داپه اجرت ونيول شي ولی چې نکاح بالکليه ختمه شوه دماشوم موراوس داجنبی ښځې په شان ده په دي شرط چې دابه له اجنبيه ښځې څخه دزيات اجرت مطالبه نه کوي ولی چې داپرخپل بچی ډيره شفيقه ده او ماشوم خپلې مورته په سپارولوکې دماشوم رعايت هم دی ،اوکه دماشوم مورله اجنبيه څخه دزيات اجرت مطالبه کوله نودماشوم پلاربه نه شي مجبوره کولی چې ماشوم به دده مورته په ډيراجرت سره سپاري ولی چې په دي کې پلارته ضرردی .

(۲۸)وَلِأَبَوَيْهِ وَأَجْدَادِهِ وَجَدَّاتِهِ لَوْ فُقَرَاءَ (۲۹)وَلَا تَجِبُ مَعَ اخْتِلَافِ الدِّينِ إِلَّا بِالزَّوْجِيَّةِ وَالْوِلَادِ (۳۰)وَلَا يُشَارِكُ الْأَبَ وَالْوَلَدَ فِي نَفَقَةِ وَلَدِهِ وَأَبَوَيْهِ أَحَدٌ (۳۱)وَلِقَرِيبٍ مَحْرَمٍ فَقِيرٍ عَاجِزٍ عَنِ الْكَسْبِ بِقَدْرِ الْإِرْثِ لَوْ مُوسِرًا

ترجمه :او(نفقه واجب ده)دموراوپلاراواجداداواجداتوکه هغوی فقراء وي ،اونفقه واجب نه ده ددين له اختلاف سره مگرپه زوجيت اوولادت سره ،اونه دي شريک له پلاراوی سره دخپل اولاداووالدينوپه نفقه کې هيڅوک ،او(نفقه واجب ده)قريب محرم لره که هغه فقيرله کسب کولوڅخه عاجزوي بقدرارث که غنی وي .

تشريح :(۲۸)قوله ولابويه واجداده وجداته لوفقراء اى تجب النفقة والكسوة لابويه واجداده وجداته لوفقراء ،يعني په انسان واجب ده چې دی به خپل موراوپلارنيکه اوانا ته نفقه ورکوي په دي شرط چې هغوئ فقراء وي که څه هم په دين کې له ده څخه مخالف وي ،دوالدينودنفقې په باره کې دليل دباری تعالی ارشاددی ﴿ وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا ﴾ (اوپه دنياکې له والدينوسره په معروفه طريقه اوسيږه)کوم چې دکافروالدينوپه باره کې نازل شوی دی چې له کافروالدينوسره په دنياکې په معروفه طريقه اوسيږي اوښکاره خبره ده چې په معروفه طريقه سره اوسيدنه دانه ده چې په خپله خودالله تعالی په نعمتونوکې عيش کوي اووالدين پرېږدي چې له لوږي مره شي ،پاتې شواجداداوجدات نوددوئ نفقه ځکه واجب ده چې هغوئ هم له امهاتواواباء څخه دي همداواجه ده چې دميراث په باب کې اجداداوجدات دموراوپلارقائم مقام دي .

(۲۹)د دين له اختلاف سره سره د چانفقه نه واجبيږي ماسوا له ښځې او له هغو څخه چې له هغوئ سره دولادت قرابت وي يعنى اصول او فروع مثلا والدين ،اجداد ،جدات ،زامن او لمسيان وغيره ،له اختلاف دين سره سره د ښځې نفقه په دي وجه واجب ده چې د ښځې نفقه د احتباس په مقابله کې ده او احتباس د اتحاد دين او اختلاف دين په هر دو وارو صورتونو کې موجودى ،او د مذكوره بالا قريبانو نفقه په دي وجه واجب ده چې د دوئ په خپل منځ کې علاقه د جزئيت ده او د انسان جزء د ده د ذات په حكم کې وي نو لکه څرنګه چې انسان د خپل ذات نفقه د كافر والى په وجه سره نه منع كوي په همدي ډول له کوموسره چې د جزئيت علاقه وي د هغې نفقه هم د كفر په وجه سره نه شي منع كولى ،البته که هغه حربى كافروي نو بيا د هغه نفقه واجب نه ده ولى كوم خلک چې له موږ سره په دين کې جنګ كوي له هغو سره له نيكۍ كولو موږ منع كړل شوي يو .

(۳۰)که ماشومان مسكينان وي پلار او مور مالداروي يا والدين مسكينان وي او دهغوئ بچي مالداروي نو په اول صورت کې د دوئ نفقه د دوئ په پلار واجب ده او په دوهم صورت کې پربچي لازم واجب ده كوم بل څوک به په نفقه کې له ده سره شريک نه وي ولى چې نفقه د قرابت په وجه واجبيږي او بچي له والدينو سره تر ټولو زيات قرابت لري او پلار له بچيانو سره تر ټولو زيات قرابت لري په دي وجه د بچيانو نفقه صرف په پلار او د والدينو نفقه صرف په بچى واجبيږي ،او د والدينو په نفقه کې نر او ښځه دواړه برابر دي .

(۳۱)قوله ولقريب محرم لفقيرعاجزعن الكسب بقدرالارث اى تجب النفقة لقريب محرم فقيرعاجزعن الكسب بقدرالارث،يعنى که قريب ذى رحم محرم حاجت مند او له كار كولو څخه عاجزوي نو د ده وارث که مالدار وي نو د ده نفقه پر دي وارث واجبه ده ولى چې احسان كول په قرابت قريبه کې واجبيږي او په قرابت بعيده کې نه واجبيږي ،او په قرابت قريبه او بعيده کې فاصل دادى چې که ذى رحم محرم وي نو قرابت قريبه دى که نه نو قرابت بعيده دى وقدقال الله تعالى ﴿ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ﴾(يعنى پر وارث د دي مثل واجبيږي). بيا نفقه په قدر ميراث واجبيږي ولى چې بقدر حاصلات انسان تاوان پورته كوي يعنى څومره چې ده ته له ميراث څخه حصه حاصليږي په هغه حساب سره بالفعل مورث ته نفقه وركوي ،مګر شرط دادى چې هغه به خپله غنى وي نو که هغه په خپله فقيروي نو هغه څرنګه چې عاجزدى څکه به نو په ده نفقه واجبه نه وي ولى چې د زوجيت او ولادت له نفقاتو څخه ماسوا نوري نفقې په عاجزنه واجبيږي .

(۳۲)وَصَحَّ بَيْعُ عَرْضِ ابْنِهِ لَا عَقَارِهِ لِنَفَقَتِهِ (۳۳)وَلَوْ أَنْفَقَ مُودَعُهُ عَلَى أَبَوَيْهِ بِلَا أَمْرٍ ضَمِنَ (۳۴)وَلَوْ أَنْفَقَا مَا عِنْدَهُمَا لَا (۳۵)وَلَوْ قَضَى بِنَفَقَةِ الْوِلَادِ وَالْقَرِيبِ ,وَمَضَتْ مُدَّةٌ سَقَطَتْ (۳۶)إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ الْقَاضِي بِالِاسْتِدَانَةِ (۳۷)وَلِمَمْلُوكِهِ (۳۸)فَإِنْ أَبَى فَفِي كَسْبِهِ (۳۹)وَإِلَّا أُمِرَ بِبَيْعِهِ

ترجمه :او صحيح دى د خپل زوى اسباب خرڅول د نفقې لپاره نه د ده ځمکه ،او که مودع مصرف كړ د مودع مال د هغه پر والدينو بلا اجازت نو ضامن كيږي ،او که والدينو مصرف كړ كوم مال چې له دوئ سره نو نه ضامن كيږي ،او که حكم وكړل شو د اولاد يا قريبانو د نفقې او څه زمانه تيره شوه نو ساقطيږي ،مګر دا چې قاضى د قرض اخيستلو حكم وكړي ،او (واجب ده) د خپل غلام نفقه ،نو که ده انكار وكړ نو د غلام له ګټې څخه ،که نه نو حكم به كول كيږي د خرڅولو .

تشريح :(۳۲)د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد والدينو له د خپل غائب زوى منقوله جائيداد په خپلو نفقه کې خرڅول استحسانا جائزدى ليكن که پلار د خپل غائب زوى ځمکه (غير منقوله جائيداد)خرڅ كړ نو جائز نه دى

،دصاحبینوپه نزد منقوله اوغیرمنقول جائیدادیوهم خرڅول جائزنه دی اوقیاس هم همدادی ولی چې دپلارولایت دزوی په بالغ والی سره منقطع شوهمدا وجه ده چې که زوی حاضروي نوپلاردخپل زوی دمال دخرڅولواختیارنه لري ،دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې پلارته دغائب په مال کې دحفاظت ولایت حاصل دی اومال منقول خرڅول دحفاظت له بابه دی اوپه غیرمنقوله کې داخبره نشته ولی چې هغه په خپله محفوظ دی لهذادهغه دخرڅولوضرورت نشته.

ف:دامام صاحب قول راجح دی لمافی الدرالمختار:(وبیع الاب)لان له ولایة التصرف (عرض ابن......لاعقاره). قال العلامة ابن عابدین:ثم ماذکرهناقول الامام وهوالاستحسان وعندهماهوالقیاس ان المنقول کالعقار لانقطاع ولایة الاب بالبلوغ (الدرالمختارمع الشامیة ۲/۷۳۳:)

(۳۳)که دغائب زوی مال دکوم اجنبي په قبضه کې دامانت په ډول وي اوده دده پروالدینو دقاضي له اجازت څخه بغیرمصرف کړنودااجنبي به ضامن وي ولی چې دي اجنبي دغیرپه مال کې بغیرله ولایت اونیابت څخه تصرف کړی دی ولی چې دی خوصرف په حفاظت کولوکې نائب دی کوم بل اختیارنه لري ،البته که قاضي ده ته حکم وکړچې دی دي دغائب له مال څخه دهغه والدینوته نفقه ورکړي نودااجنبي کس به ضامن نه وي ولی چې دقاضي حکم پرده لازم دی ځکه چې دقاضي ولایت پرټولوعام دی.

(۳۴)قوله ولوانفقاماعندهمالاای لوانفق الوالدان من مال الذی عندهمالولدهماالغائب لایضمان،یعنی که زوی غائب وي اودده مال دوالدینوپه قبضه کې وي اووالدینوله هغه څخه خپله نفقه واخیستله نودوئ به ضامن نه وي ولی چې دوئ خپل حق حاصل کړی دی ځکه چې ددوئ نفقه دقاضي له قضاء څخه وړاندي واجب ده لهذاهغوئ خپل حق وصول کړی دی ځکه به نوضامن نه وي علی مامر.

(۳۵)که قاضي پرکوم چاباندي دده دزوی،والدینواونورقریبانونفقه مقرره کړه بیاله نفقه ورکولوڅخه بغیرڅه زمانه تیره شوه نوددي زماني نفقه ساقطه شوه ولی چې ددي کسانونفقه دضرورياتودپوره کولولپاره واجبيږي حتی که داکسان مالداروي نوددوئ لپاه نفقه نه واجبيږي اوبلانفقه په څه زمانه تیریدلوسره دهغي زماني ضرورت پوره شوی دی ځکه نوددي مدت نفقه ساقطيږي.

(۳۶)البته که قاضي دي کسانوته پرغائب دقرض اخیستلوحکم وکړنوپه زمانه تیریدلوسره به ددوئ نفقه ساقطه نه وي ولی چې قاضي لره ولایت عامه حاصل دی لهذادقاضي حکم ورکول داسې دی لکه چې غائب په خپله اجازت ورکړی وي چې پرماقرضه واخله نوداقرضه دده پرذمه شوه لهذااوس دمدت په تیریدلوسره نه ساقطيږي.

(۳۷)قوله ولمملوکه ای تجب النفقة علی المولی لمملوکه ،یعنی پرمولی دخپل غلام اومینځې نفقه واجب ده ،غلام اومینځه خواه که قن وي اوکه مدبروي یاام ولدوی ،صغیروي یاکبیروي دټولونفقه پرمولی واجب ده﴿لقوله ﷺ هم إخوانکم وخولکم جعلهم الله تحت أیدیکم فمن کان أخوه تحت یدیه فلیطعمه مما یأکل ولیلبسه مما یلبس ولا تکلفوهم ما یغلبهم فإن کلفتموهم فأعینوهم﴾(یعنی ستاسې غلامان ستاسې ورونه دي دوئ الله تعالی ستاسې ترلاسولاندي کړي دي نوورخوروئ دوئ ته له هغه څخه کوم چې تاسې خوری اووراغوندئ دوئ ته له هغو څخه کوم چې تاسې اغوندی اودالله تعالی بندګانوته عذاب مه ورکوئ).

(۳۸) قوله فان ابى ففى كسبه اى ان امتنع المولى عن الانفاق على مملوكه فنفقة المملوك فى كسبه ،يعنى كه مولى دوئ ته له نفقې ورکولو څخه انکار وکړنو دوئ ته به له خپل کسب څخه نفقه ورکول کیږي یعنی کتل کیږي به چې په مینځه او غلام کې دکار کولو صلاحیت شته او که نه شته ،که دوئ کار کولی شوی نو کار دي وکړي او خپل ګذاره دي وکړي یا که دوئ له وړاندي څخه څه ګټلي وي او هغه موجود وي نو هغه دي پر دوئ مصرف شې ولی چې په دي کې د طرفینو رعایت دی په دي دول چې مملوک به کار وکړي او خورک به وکړي نو ژوندی به پاتې شې او د مولی به ملک باقی پاتې وي.

(۳۹) قوله والا امر ببيعه اى وان لم يكن له كسب امر المولى ببيع المملوك ،يعنى كه د دوئ ګټه نه وي يعني هغوئ دواړه د کار کولو صلاحیت نه لري مثلاً غلام شل وي او مینځه داسې وي چې خلګ یې په اجرت نه اخلې نو په دي صورت کې به مولی مجبور کړای شې چې دوئ خرڅ کړي ولی چې غلام د بنی ادم والی په وجه سره د نفقه مستحق دی او په خرڅولو سره د ده حق اداء کیږي حال دا چې مولی لره د مملوک د قیمت په حصول سره د ده حق هم اداء کیږي.

كِتَابُ الْعَتَاقِ

دا کتاب د عتاق په بیان کې دی

عتق او عتاق لغةً په معنی د قوت دي شرابو ته هم په همدي وجه عتیق ویل کیږي چې په هغو کې زيات قوت موجود دی او عتق په اصطلاح کې هم د ضعف (یعنی رقیت) ازاله ده او د قوت حکمیه (یعنی حریت) اثبات دی ، شرعاً د مولی له خپل مملوک څخه خپل حق د ملکیت په داسې طریقه ساقطولو ته چې هغه آزاد شي عتق ویل کیږي.

مصنف رحمه الله د طلاق له مباحثو او د هغه له متعلقاتو یعنی نفقاتو وغیره څخه فارغ شو نو د عتاق په مباحثو یې شروع وکړه . د طلاق او عتاق په مابین کې مناسبت دا دی چې په دواړو کې رفع د قید ده او له دواړو څخه یو هم بعد الوقوع فسخ نه قبلوي ،بیا طلاق که څه هم غیرمندوب دی بیا یې هم هغه مقدم کړی دی وجه یې دا ده چې تر څو د نکاح په مقابل کې ذکر شي ،او د عتاق خاص له نفقاتو سره مناسبت دا دی چې په اعتاق کې د احیاء معنی موندل کیږي ولی چې کفر حکما مرګ دی لقوله تعالى ﴿او من كان ميتا فاحييناه﴾ اى كافرا فهديناه .او رق د کفر اثر دی نو په دي وجه ازاله رق احیاء ده او همدا د احیاء معنی په نفقاتو کې هم شته کوم چې ظاهره دی.

اعتاق مندوب الیه عمل دی قال عليه السلام ,,ايما مؤمن اعتق مؤمنا فى الدنيا اعتق الله بكل عضو منه عضوا منه من النار ،همدا وجه ده چې د نارینه لپاره غلام او د ښځې لپاره مینځه آزادول مستحسن بلل شوی دی د دې لپاره چې مقابلة الاعضاء بالاعضاء متحققه شي.

(۱)هو إثبات القوة الشرعية للمملوك عند زوال الرق والملک (۲) ويصح من حر مكلف لمملوكه (۳) بأنت حر أو بما يعبر به عن البدن، وعتيق ومعتق ومحرر وحررتک وأعتقتک نواه أو لا (۴) وبلا ملک ولا رق ولا سبيل لي عليک إن نوى

ترجمه: هغه شرعي قوت دى كوم چې ثابتيږي په محل كې د رقيت او ملک د زائليدلو پر وخت، او صحيح دى له ازاد او عاقل او بالغ شخصه كله چې هغه ووايي خپل غلام ته، ته ازاد دي او په هغو الفاظو سره د كوموپه ذريعه چې له ټول بدن شخصه تعبير كيږي او په دي قول سره چې ته ازاد شوى يې يا ازاد كړاى شوي يې او ماته ازاد كړى يې خواه كه نيت وكړي يا يې نه وكړي، او په دي سره چې پر تا زما ملک نشته او رقيت نشته او ما لره پر تا اختيار نشته كه يې د هغه نيت كړى وي.

تشريح: (۱) مصنف رحمه الله د عتق اصطلاحي تعريف داسي كړى دى چې عتق ديو داسي قوت شرعيه نوم دى كوم چې په غلام كې هغه وخت ثابتيږي په كوم وخت كې چې له غلام شخصه غلامي او د مالک ملک زائل شي، په ځينو نسخو كې عبارت په دي ډول دي، هواثبات القوة الشرعية في المملوک. يعني په غلام كې د قوت شرعية ثابتولو ته عتق ويل كيږي، قوت شرعية دا دى چې او س هغه د شهادت اداء كولو اهل ګرځي او پر خپل ځان او اولاد باندي هغه ته ولايت حاصليږي.

(۲) مصنف رحمه الله د صحت اعتاق لپاره دري شرطونه ذكر كړي دي. \نمبر۱، چې ازادونكى به خپله آزاد وي ولې چې اعتاق صرف په خپل ملک كې صحيح كيږي او څوک چې په خپله مملوک وي د هغه هيڅ ملک نه وي لهذا مملوک يو څوک نشي آزادولاى. \نمبر۲. د آزادونكى به مكلف يعني عاقل بالغ وي ولى چې په نابالغ او ليونى كې د آزادولو اهليت نشته په دي وجه چې آزادول په ظاهره ضرر وي همدا وجه ده چې ولي ته د نابالغ له طرف شخصه د آزادولو اجازت شرعاً نشته. \نمبر۳. غلام به د آزادونكى په ملک كې وي يا د غلام د آزادولو نسبت د خپل ملک طرف ته وكړي لكه، ان ملكتک فانت حر (يعني كه زه ستا مالک شوم نو ته آزاد يې) لقوله ﷺ ﴿لا عتق فيما لا يملک ابن آدم﴾ (يعني انسان چې د كوم مالک نه وي په هغه كې ازادول نه وي).

(۳) قوله بانت حر اى يصح بقوله انت حر. يعني كه مولى خپل غلام يا مينځې ته وويل، انت حر، يا يې داسي لفظ ووايو چې په هغه سره له ټول بدن شخصه تعبير كيږي مثلاً ووايي، راسک حر، (ستا سر آزاد دى)، يا ووايي، وجهک حر، (ستا مخ آزاد دى) يا ووايي، رقبتک حر، (ستا غاړه آزاد ده)، يا ووايي، بدنک حر، (ستا بدن آزاد دى)، يا ووايي، انت معتق، (ته آزاد يې) يا داسي ووايي، أنت عتيق، (ته آزاد يې)، يا ووايي، انت محرر، (ته ازاد كړاى شوى يې) يا داسي ووايي، قد حررتک، (ماته آزاد كړى وي)، يا ووايي، اعتقتک، (ماته آزاد كړى يې)، نو هغه آزاديږي خواه كه مولى په دي الفاظو سره د آزادولو نيت كړى وي او كه يې نه وي كړى ولى چې دا الفاظ د آزادولو په معنى كې صريح دي شرعاً او عرفاً په دي معنى كې مستعمل دي او الفاظ صريحه په عمل كولو كې د نيت محتاج نه دي. نو كه مالک وويل چې ما له كار شخصه د آزادولو نيت كړى وونو قضاء به د هغه تصديق نه كيږي ولى چې دا خلاف ظاهر ده، البته ديانةً به د هغه تصديق كيږي ولى چې دا دده د كلام محتمل دى.

(۴) قوله بلا ملک لي عليک اى يصح بقوله لعبده لا ملک لي عليک. يعني كه مولى خپل مملوک ته وويل، لا ملک لي عليک، (زما پر تا باندې ملک نشته) يا ووايي، لا سبيل لي عليک، (زما لپاره پر تا هيڅ لاره نشته) ولا رق لي

علیک،(پر تا زما پاره رقیت نشته)او له په دي الفاظو سره یې دآزادولو نیت وکړ نو دا غلام آزادیږي ،او که یې دآزادولو نیت نه وکړی بیا نه آزادیږي .ولې چې دا الفاظ له کنایه څخه دي په دي وجه چې په دي کې دوه احتماله دي یو دادی چې زما ملک پر تا باندي په دي وجه نشته چې ماته خرڅ کړی یې دوهم احتمال دادی چې ملک په دي وجه نشته چې ماته آزاد کړی یې لهذا دا دکنایه کیدلو په وجه سره نیت ته محتاج دی .

(۵) وَهٰذَا ابْنِي اَوْ اَبِي اَوْ اُمِّي (٦) وَهٰذَا مَوْلَايَ اَوْ يَا مَوْلَايَ اَوْ يَا حُرُّ اَوْ يَا عَتِيْقُ (٧) لَا بِيَا ابْنِي وَيَا اَخِي وَلَا سُلْطَانَ لِي عَلَيْكَ (٨) وَاَلْفَاظِ الطَّلَاقِ (٩)، وَاَنْتِ مِثْلُ الْحُرِّ

ترجمه:او په دي وینا سره ،چې، دا زما زوی دی ،یا زما پلار دی، یازما مور ده ،او دا زما مولی دی یا أی زما مولی او یا أی حرّ یا ای آزاد ،نه په دي وینا سره چې أی زما زویه یا ای زما ورور ه ،او پر تا باندي زما سلطنت نشته ،او په الفاظو دطلاق سره،او نه په دي وینا سره چې ته دحر په شان یې .

تشریح:(۵)قوله بهذا ابنی ای یعتق بقوله لعبده هذا ابنی .یعنی که مولی خپل غلام په اشاره کولو سره وویل هذا ابنی، (دا زما زوی دی)نو که دغلام کوم معروف نسب نه وو اودغلام عمردومره وو چې له مولی څخه ددزیږیدل ممکن وو نوله مولی څخه دده نسب ثابتیږي اوکله چې نسب ثابت شو نو آزاد هم شو ﴿لقوله ﷺ من ملک ذارحم محرم منه فهو حر﴾(یعنی کوم څوک چې دخپل ذی رحم محرم مالک شي نو هغه آزاد دی).

او که دغلام نسب معلوم وو نو له مولی څخه دهغه نسب نه ثابتیږي البته غلام آزادیږي ولی چې د،هذا ابنی ،دحقیقي معنی دمتعذر کیدلو په وجه سره به هغه پر مجازي معنی یعنی ازادي محمول کیږي ولی چې زوی والی دازادي سبب دی نو دسبب په ذکر کولو سره یې مسبب مراد کړی دی ،همدا حکم ددي وینا هم دی چې څوک خپل غلام ته په اشاره کولو سره ووایي چې هذا ابی(دا زما پلار دی)یا خپلې مینځې ته په اشاره کولو سره ووایي هذا امی (دا زما مور ده)لماقلنا.

(۶)قوله وهذا مولای ای یعتق بقول المولی لعبده هذا مولای .یعنی که مالک دخپل غلام طرف ته اشاره وکړه او دایي وویل، هذا مولای ،(دا زما مولی-دی)،یا غلام ته داورازکولو پر وخت ووایي یامولای ،(ای زما مولی)،یایي وویل ، یاحرّ ،اویاعتیق، (ای آزاد)نو بغیر له نیت څخه آزادیږي ولی چې ،یاحر ویاعتیق ،په عتق کې دصریح کیدلو په وجه سره نیت ته احتیاج نه لري .او خپل غلام ته دمولی ویلو په صورت کې لفظ مولی مشترک دی یوه معنی یې معتق (یعنی دآزادونکی) ده او دوهمه معنی یې دده معتَق(آزاد کړای شوی)ده او په عبد کې صرف دا معنی مناسبه ده لهذا دلته دا الفاظ په الفاظو صریحه و (لکه یاحر یاعتیق) پوري په ملحق کیدلو بلانیت عمل کوي .

(۷)قوله لا بیاابنی ویااخی ای لایصح العتق بقوله لعبده یاابنی ویااخی .یعنی که مولی خپل غلام ته وویل ،یاابنی او یااخی ،(ای زما زویه یا ای زما ورور ه)نو غلام نه آزادیږي ولې چې دا الفاظ عادة داکرام او شفقت لپاره استعمالیږي دهغو حقیقی معنی مرادنه وي ،او که مولی خپل غلام ته ووایي ،لاسلطان لی علیک ،(پر تا باندي زما سلطنت نشته)او دآزادولو نیت وکړي نو غلام نه آزادیږي ځکه سلطان له قبضي څخه عبارت دی او دقبضي نفی دملک نفی ته مستلزمه نه ده ولی چې داکیداشي چې ملک قائم وي او قبضه نه وي لکه چې په مکاتب کې دمولی ملک قائم دی مګر قبضه نشته .

(۸)قوله والفاظ الطلاق اى لايقع العتق بالفاظ الطلاق .يعنى كه مولى خپلې مينځې ته هغه الفاظ ووايې چې په هغو سره طلاق واقع كيږي مثلاً ووايي ،انت طالق ،(ته طلاقه يي)،يا ،انت بائن ،(ته بائنه يي)اوپه دي الفاظو سره نيت دآزاديدلو وكړي نو مينځه نه آزاديږي ځكه ملك يمين قوي دى تر ملك نكاح نو چې كوم الفاظ ضعيف (نكاح)زائله وي ضروري نه ده چې هغه قوي (ملک يمين) دي هم زائل كړي .او دطلاق دټولو الفاظو صريحه وكنايه همدا حكم دى .

(۹)قوله وانت مثل الحر اى لايعتق بقوله لعبده انت مثل الحر .يعنى كه مولى خپل غلام ته ووېل ،أنت مثل الحرّ ،(ته دآزادّ په شان يي)نو غلام نه آزاديږي ولى چې لفظ مثل په عرف كې په ځيني اوصافو كې دمشترک والى لپاره استعماليږي نو معلومه نه ده چې غلام ته يې له ازادسره په كوم وصف كې تشبيه وركړي ده لهذا په ازاديدلو كې شک پيدا شو او دشک په وجه سره ازادي نه واقع كيږي .

(۱۰)وَعَتَقَ بِمَا انتَ اِلّا حُرٌّ (۱۱)وَبِمِلْكِ قَرِيبٍ مَحْرَمٍ ،وَلَوْ كَانَ الْمَالِكُ صَبِيًّا اَوْ مَجْنُونًا(۱۲)وَبِتَحْرِيرٍ لِوَجْهِ اللّٰهِ وَلِلشَّيْطَانِ وَلِلصَّنَمِ وَبِكُرْهٍ وَسُكْرٍ (۱۳)اِنْ اَضَافَهُ اِلَى مِلْكٍ اَوْ شَرْطٍ صَحَّ

ترجمه:او آزاديږي په دي ويلو سره چې نه يې ته مگر آزاد ،او دخپل قريب محرم په مالک كيدلو سره كه څه هم مالک ماشوم وي يا ليونى وي ،او دالله ﷻ درضاء لپاره يا دشيطان لپاره يا دبت لپاره په ازدولو سره او په زور او په حالت نشه كې په ازادولو سره ،او كه يې آزادي منسوب كړه دملک يا شرط طرف ته نو صحيح ده .

تشريح:(۱۰)او كه مالک خپل غلام ته ووېل ،ماانت الاحرّ ،(نه يې ته مگر آزاد)نو غلام آزاديږي ولې چې له نفي څخه استثناء كول دتأكيد په ډول سره اثبات دى لكه چې په كلمه ،شهادت ،لااله الاالله ،كې دى.

(۱۱)قوله وبملک قريب اى يقع العتق بملک الرجل القريب .يعنى كوم شخص چې دخپل ذى رحم محرم (هو القريب الذى حرم نكاحه ابدا)مالک شي نو هغه پر ده باندې آزاديږي كه مالک صغير وي او كه كبير ،مجنون وي او كه عاقل وي،ذمى وي او كه مسلمان وي لقوله ﷺ ﴿من ملک ذارحم محرم منه فهو حر﴾(يعنى كوم څوک چې دخپل ذى رحم محرم مالک شي نو هغه آزاد دى).

(۱۲)قوله وبتحرير لوجه الله اى يصح العتق ايضا بتحرير لوجه الله .يعنى كه يو شخص خپل غلام دالله ﷻ يا دشيطان يا بت لپاره آزاد كړ نو په دري سره صورتونو كې غلام آزاديږي ،(ليكن په آخيري دوصورتونو كې معتِق گنهاگار يږي ،بل ان قصد التعظيم كفر)ولى چې د اعتاق صدور له اهل اعتاق (يعنى عاقل بالغ)څخه شوى دى او په خپل محل كې متحقق شو ولى چې غلام دهغه مملوک دى لهذاآزاد يږي ،او كه يو څوک دخپل غلام په آزادولو باندې مجبور كړاى شو بيانو هغه ازادكړ ،يا ديوحرام شئ له خوړلو يا څښلو څخه مست انسان خپل غلام آزادكړ نو آزاديږي ولې چې اعتاق له خپل اهل څخه په خپل محل كې صادر شو كامرّ.

(۱۳)او كه يو چا دغلام آزادي دملک طرف ته منسوب كړه مثلا وي ويل ،ان ملكتک فانت حرّ (كه زه ستا مالک شوم نو ته آزاد يې)يايې دشرط طرف ته منسوب كړه مثلا وي ويل ،ان دخلت الدار فانت حرّ ، (كه ته

كورته داخل شوې نو ته آزاد يي) نو دا صحيح ده ولې چې آزادول داسقاط حق له قبيلې څخه دی او اسقاطات په شرط پوري معلق كول صحيح دي لكه څرنګه چې په طلاق كې صحيح دي وقدسبق بيانه .

(۱۴)وَلَوْ حَرَّرَ حَامِلًا عَتَقَا (۱۵)وَإِنْ حَرَّرَهُ عَتَقَ فَقَطْ (۱۶)وَالْوَلَدُ يَتْبَعُ الْأُمَّ فِي الْمِلْكِ وَالْحُرِّيَّةِ وَالرِّقِّ وَالتَّدْبِيرِ وَالِاسْتِيلَادِ وَالْكِتَابَةِ (۱۷)وَوَلَدُ الْأَمَةِ مِنْ سَيِّدِهَا حُرٌّ

ترجمه:او كه مولی حامله مينځه آزاده كړه نو مينځه او حمل دواړه آزاديږي ،او كه يې صرف حمل آزاد كړ نو صرف حمل آزاديږي ،او ماشوم دمورتابع دی په ملک او حريت او په غلام كيدلو كې او په مدبر كيدلو كې او په ام ولد كيدلو كې او په كتابت كې ،او دمينځې ماشوم له خپل مولی څخه ازاددی .

تشريح:(۱۴)كه مالک خپله حامله مينځه آزاده كړه نو دمينځې په تبع سره حمل هم ازاديږي ولې چې حمل دمينځې دكوم عضو په شان دی نو لكه څرنګه چې دمينځې په ازادولو سره دمينځې اعضاء ازاديږي همداشان دهغې حمل هم ازاديږي .

(۱۵)كه يې صرف حمل آزاد كړ نو فقط حمل آزاديږي دهغه مور نه آزاديږي ولې چې داصالة ازاديدلو خوهيڅ وجه نشته ،او مينځه دحمل په تابع كولو كې قلب موضوع لازميږي ولې چې وضع عقلي خوداده چې حمل دمورتابع وي په دي وجه چې حمل كالجزء من الام دی نو دموره په تابع كرځولو كې كل دجزء تابع كيږي او دكل جزء لره په تابع كيدلو كې قلب موضوع ده په دي وجه مورنه ازاديږي .

(۱۶)حمل په څوشيانو كې دمورتابع دی (۱)په ملک كې مثلا كوم كس دمينځې داخيستلو ياهبې په وجه مالک شو نو داكس ددې مينځې دحمل هم مالک ګرځي (۲)په حريت كې مثلا كه چا حامله مينځه آزاده كړه نو بچی دموره په تابع كيدلوسره آزاديږي كمامرّ (۳)په رقيت كې مثلا يوه حامله مينځه له دارالحرب څخه ونيول شوه نو دهغې بچی هم دموره په تبع سره غلام ګرځي (۴)په تدبير كې مثلا يو چاخپله حامله مينځه مدبره كړه نو دمورتابع كيدلوسره بچی هم مدبر كيږي ،(۵)په استيلاد كې مثلا مولی خپله ام الولده يو چاته په نكاح وركړه نو دمولی له مرګ څخه وروسته بچی دموره په تابع كيدلوسره آزاديږي (۶)په كتابت كې مثلا يو مولی خپله حامله مينځه مكاتبه كړه نو دهغې بچی هم دموره په تابع كيدلوسره مكاتب كيږي په دي ټولوصورتونو كې بچی دپلارتابع نه دی ولې چې دپلار نطفه دموره په نطفه كې هلاكيږي او دهلاک شوی اعتبار نه وي ، همداشان بچی دمورله طرف څخه كيدل متيقن دی حال داچې دپلارله طرف څخه متيقن نه دی . همداشان له مورڅخه له جلاكيدلو وړاندې ماشوم حسااو حكمادمورد نوروا عضاء په شان دی لهذا كوم حكم چې دموروي هغه به ددي دماشوم هم وي .

(۱۷)دمينځې هغه اولاد كوم چې دهغې له مالک څخه پيداشوی وي هغه ازاددی ولې چې داماشوم دمولی له نطفې څخه پيداشوی دی نو ذی رحم محرم والی په وجه سره ازاديږي ،كه څه هم دهغه مورمملوكه وي مګرپه دي صورت كې دمورنطفه دپلاردنطفې سره معارضه نه شي كيدلای ولې چې دمورنطفه دپلار رمملوكه ده .

بَابُ الْعَبْدِ يُعْتِقُ بَعْضُهُ

دا باب دهغه غلام په بيان کې دی دکوم چې څه حصه ازاده شي

په دې کې هيڅ شک نشته چې ټول غلام آزادول کثيرالوقوع دي او بعض غلام آزادول نادرالوقوع دي او داظاهره ده چې دکثيرالوقوع داحکامو معرفت ته ډير ضرورت وي بنسبت نادرالوقوع ته ،او کوم چې ضرورت ډيروي هغه احق بالتقديم دی په دې وجه مصنف رحمه الله دټول غلام دآزادولو داحکامو بيان مقدم کړی دی د بعض غلام دآزادولو پر احکامو باندې.

(۱)من أعْتَقَ بَعْضَ عَبْدِهِ وَلَمْ يَعْتِقْ كُلُّهُ, وَسَعَى لَهُ فِيمَا بَقِيَ (۲),وهو كَالْمُكَاتَبِ (۳)وَإِنْ أَعْتَقَ نَصِيبَهُ فَلِشَرِيكِهِ أَنْ يُحَرِّرَ أَوْ يَسْتَسْعِيَ, وَالْوَلَاءُ لَهُمَا أَوْ يُضَمِّنَ لَوْ مُوسِرًا, وَيَرْجِعُ بِهِ عَلَى الْعَبْدِ, وَالْوَلَاءُ لَهُ

ترجمه: کوم چا چې ازاد کړه دخپل غلام بعض حصه نو هغه ټول نه ازادېږي او کټي به ده لره مابقي ،او هغه دمکاتب په شان دی او که هغه ازاده کړه خپله حصه نو دهغه شريک لره اختيار دی چې هغه ازاد کړي يا کسب پرې وکړي او ولاء به دواړو لره وي ياضامن جوړ کړي که غني وي او دهغه په غلام رجوع وکړي او ولاء به صرف هغه لره وي.

تشريح:(۱)که مولی دخپل غلام څه حصه آزاد کړه مثلا وي ويل ،ثلثک او نصفک حرّ،(ستاثلث يا نصف آزاد دی)نو دامام صاحب رحمه الله په نزد ټول غلام نه آزادېږي بلکه څومره قدر چې مولی آزاد کړی ده هغومره آزادېږي او غلام به دباقي حصه قيمت وکټي مولی ته به يې ورکړي داشان به ټول غلام آزادشي ،دصاحبينو رحمهما الله په نزد که مولی څه حصه آزاد کړه بس نو ټول غلام آزادېږي ،دصاحبينو رح په نزد اعتاق نه شي تجزی (تقسيم) کيدلای ،ولې چې په غلام کې قوت حکميه (دتصرفاتو کولو قوت) ثابتولو نوم اعتاق دی او قوت حکميه نه شي ټکړي کيدلای نو اعتاق هم نه شي تجزی کيدلای او کوم شئ چې تجزی کيدای نه شي نو دهغه يو حصې يا يو جزء ته منسوب کول داسې دی لکه دکل طرف ته منسوب کول بيانو اعتاق دغلام يوې حصې ته منسوب کول دکل طرف ته منسوب کول دي په دې وجه په دې صورت کې پوره غلام آزادېږي .دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد اعتاق تجزی قبلوي ولې چې اعتاق ازاله ملک ده او ملک تقسيم کيدلای شي لکه په بيع او هبه کې (مثلا نيم غلام خرڅول يا هبه کول صحيح دی)لهذا مولی چې څومره قدر آزاد کړی هغومره آزادېږي .

ف: دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی لمافي الدر المختار :(اعتق بعض عبده)ولو مبهما (صح).........(وقالا) من اعتق بعضه (عتق كله) والصحيح قول الامام قهستاني (الدر المختار علی هامش ردالمحتار :۱۶/۳)

(۲)او داسې غلام په احکامو کې دمکاتب په شان دی يعنی دمکاتب په شان داهم دمولی له قبضې څخه آزادېږي او س چې چيرته وغواړي تلای شي ،او دخپلې آزادۍ دعوض لپاره دې ګټه وکړي په دې وجه چې هغه ټول رقيق دی او دمولی ملک له بعض حصې څخه زائل شوی دی نو ددواړو طرفو په رعايت کولو سره هغه غلام مکاتب ګرځول شوی دی ولې چې مکاتب هم يدامالک وي اورقبه يې مملوکه وي .دصاحبينو په نزد داسې غلام ټول ازاد او مديون دی ولې چې اعتاق متجزی نه دی لهذا ټول غلام ازاد شمارل کيږي.

(۳)که غلام ددوو شریکانو په منځ کې مشترک وو له هغوئ څخه یوه خپله حصه آزاده کړه نو آزادونکی به له دوو حالونو څخه خالي نه وي ،مالدار به وي یابه فقیروي ،که مالدار وي نو شریک ته په دروشیانو کې اختیار دی \نمبر۱.که یې خوښه وي نو دخپل شریک په شان دې خپله حصه آزاده کړي ولی چې په باقې حصه کې دده ملک قائم دی .په دې صورت کې به ولاء (میراث چې له آزادکړای شوی غلام څخه یاد عقدموالاة په وجه سره حاصل شي هغه ته ولاء ویل کیږي) ددواړو تر منځ مشترکه وي ولی چې داعتاق صدور له دواړو څخه شوی دی .\نمبر۲،که یې خوښه وي نو په غلام څه دې دخپلې حصې په آندازه کسب وکړي ولی چې دمعتِق مالداروالی له سعایت څخه مانع نه دی ،په دې صورت کې به هم ولاء ددواړو شریکانو په منځ کې مشترکه وي ولې چې دعتق صدورله دواړوڅخه شوی دی .\نمبر۳،که یې خوښه وي نوله خپل شریک څخه دې دخپلې حصې دقیمت تاوان واخلې ولی چې هغه دخپلې حصې په آزادولوسره دهغه حصه هم فاسده کړه کړه ولې چې هغه اوس خپله حصه نه هبه کولای شې اونه یې خرڅولای شې ،بیانو معتق چې خپل شریک ته کوم تاوان وکوي دهغه په اندازه به پرغلام رجوع کوي ولی چې کله هغه خپل شریک ته تاوان اداءکړنوهغه دشریک قائم مقام شواوشریک ته دااختیاروو چې په غلام کسب وکړي نوازادونکی لره به هم دااختیاروي ،اوولاء به په دې صورت کې صرف معتق لره وي ولی چې اعتاق صرف له ده څخه صادرشوی دی .

ف:که آزادونکی فقیر وي نو شریک ته په دوو شیانو کې اختیاردی ،\نمبر۱،که یې خوښه وي نو دی دې هم خپله حصه آزادکړي ولی چې دده ملک باقې دی او که یې خوښه وي نو په غلام دې دخپلې حصې په اندازه گټه وکړي،او په دواړو صورتونوکې به ولاء دواړومشرکه وي.داامام ابوحنیفه رحمه الله مسلک دی ،دصاحبینو په نزد که معتق مالداروي نو شریک آخر به صرف له هغه بل څخه ضمان اخلي او که فقیروو نو له غلام څخه به دخپلې حصې په اندازه کسب وکړي اوگټه به اخلي اوبس .

ف:دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی لمافی الهندیه :اذاکان العبدبین الشریکین فاعتق احدهما نصیبه عتق فان کان موسرا فشریکه بالخیار ان شاء اعتق وان شاء ضمن وان شاء استسعی العبد (الهندیة: ۲\۹)

(۴)وَلَوْ شَهِدَ كُلٌّ بِعِتْقِ نَصِيبِ صَاحِبِهِ سَعَى لَهُمَا (۵)وَلَوْ عَلَّقَ أَحَدُهُمَا عِتْقَهُ بِفِعْلِ فُلَانٍ غَدًا ,وَعَكَسَ الْآخَرُ وَمَضَى ,وَلَمْ يَدْرِ عَتَقَ نِصْفُهُ ,وَسَعَى فِي نِصْفِهِ لَهُمَا

ترجمه:که هریوه شاهدي ورکړه دخپل شریک دحصې دازادولونوغلام به کسب کوي ددواړولپاره ، اوُکه معلق کړیوه دغلام ازادي دفلان په فعل پسې په صباورځ کې اوهغه بل ددې عکس وکړاو صباورځ تیره شوه اومعلوم نه شونونیمایې ازادیږي اوکسب به کوي په نیمایې کې دواړولره .

تشریح:(۴)که دوو شریکانو هره یوه پرخپل شریک باندې په مشترک غلام کې دآزادې شاهده ورکړه او دوهم دهغه انکار وکړ نو غلام آزادیږي ،دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندې به له دوی دواړو څخه دهریوه لپاره به دهغه دحصې په آندازه گټه کوي خواه شریکین مالدار وي او که فقیران وي یا یو مالدار وي بل فقیر وي ولې چې له دوی څه هریوه دخپل شریک په حق کې دغلام دآزادی خبرورکړیده او دخپل ځان په حق کې دغلام دمکاتب کیدو خبرورکړیده بیانو دهریوه قول دخپل ځان په حق کې مقبولیږي مگرددوهم شریک په

حق کې نه مقبولیږي ،لهذا غلام به دهریوه لپاره کټه کوي ،او دولاء دواړه مستحق دي ځکه دهر یوه داخیال دی چې زما حصه دمکاتب کیدلو په نتیجه کې آزادیږي .

ف: دصاحبینو رح په نزد که شریک مالداروي نو په غلام باندې کټه کول واجب نه ده ولې چې دصاحبینو رح له اصولو څخه داده چې شریک که مالداروي نو پر غلام باندې کټه کول واجب نه ده بیا نو دهریوه مالدار کیدل غلام له کټې څه بری کول دی ،او که شریکین دواړه فقیران وو نو پر غلام باندې ددواړو لپاره کټه کول واجب ده ځکه دهریوه شریک گمان دادی چې پر دوهم باندې دفقارت له وجې ضمان نشته بلکه په غلام باندې کټه واجب ده ،او که یو مالدار وو او دوهم فقیروو نو دفقیر لپاره کټه کول کیږي دمالدار لپار ه نه کول کیږي لماعلمت.

(۵)که له دوو شریکانو څخه یوه دهغه غلام آزادي دفلان تر فعل کولو په صباکې معلق کړه مثلا وغلام ته داووایي چې که زید صبا کورته راغلی نو ته آزاد یې او دوهم بیا دهغه عکس وویل یعنی دایې وویل چې که زید صبا کورته نه راغلی نو ته آزادیې اوس دصباورځ تیره شوه دزید راتگ یانه راتگ معلوم نه شو نو په داصورت کې نصف غلام آزادیږي او هغه به دباقې نصف قیمت لپاره به دواړو مالکانو ته کټه کوي ځکه له دواړه شرطو څخه یو شرط یقیني موجود دی نو نصف غلام په یقین سره آزادیږي او کوم نصف چې آزادشو دهغه لپاره کټه کول ساقطیږي لهذا دباقې نصف قیمت لپاره به کټه کوي وخپلو دواړو مالکانو ته به یې آداکوي .

(٦)وَلَوْ حَلَفَ كُلٌّ وَاحِدٍ بِعِتْقِ عَبْدِهِ لَمْ يَعْتِقْ وَاحِدٌ (٧)وَمَنْ مَلَكَ ابْنَهُ مَعَ آخَرَ عَتَقَ حَظُّهُ ,وَلَمْ يَضْمَنْ وَلِشَرِيكِهِ أَنْ يَعْتِقَ أَوْ يَسْتَسْعِيَ

ترجمه :که هریوه قسم واخیست دغلام دزادي نونه ازادیږي یوهم ،کوم کس چې مالک شو دخپل زوی له بل سره نوازادیږي دهغه حصه اوضامن نه دی اوشریک لره اختیاردی چې ازادیې کړي یاکسب پرې وکړي .

تشریح:(۶)که دوو کسانو هریوه دخپل غلام دآزادولو داول صورت په شان قسم واخیست یعنی هریوه دخپل غلام آزادي ددوهم په برعکس شرط پوري معلق کړه مثلا یوه وویل ،که زید صبا کورته راغلی نو زماغلام حر دی دوهم بیا وویل ،چې که صبا زید کورته نه راغلی نو زماغلام حر دی ،بیا دصباورځ تیره شوه مگردزید راتگ او نه راتگ معلوم نشو نو دوی دواړو څه دیوه غلام هم نه آزادیږي وجه یې داده چې پر کوم مولی باندې داحکم کول کیږي چې دهغه غلام آزاددی هغه مجهول دی او همداشان کوم غلام چې آزادیږي هغه هم مجهول دی بس دداجهالت له وجې قاضي یوشان حکم نه شئ کولای .(۷)که دوو کسانو په گډه دیوه زوی واخیست نو دپلار حصه آزادیږي ځکه دخپل ذی رحم محرم دمالک کیدوله وجې مملوک آزادیږي ،اوس ددوهم شریک حصه هم آزادیږي او پلار ددوهم شریک ضامن هم نه کیږي ولې چې دغلام شراء ددواړو په قول سره حاصلیږي نو شریک په داآزادي باندې راضی ده ځکه شراء دذی رحم محرم اعتاق دی نو داداسې ده لکه چې یو شریک وبل شریک ته دهغه دحصې دآزادولو اجازت صراحةً ورکړي .دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد شریک آخر که خوښه وي نو خپله حصه دې آزادکړي ځکه چې دهغه ملک قائم دی او که ئې خوښه وي له غلام څه دې دکټې غوښتنه وکړي او خپله حصه دوصول کړي له دې وجې چې دپلار له طرفه هیڅ قسم تعدی نده شوې لهذا له غلام څه کټه اخستل کیږي.

(۸)وان اشترى نصفه اجنبى هم لاب مابقى فله ان يضمن الاب او يستسعى (۹) وَاِنْ اشْتَرٰى نِصْفَ ابِيهِ مِمَّنْ يَمْلِكُ كُلَّهُ لَا يَضْمَنُ لِبَائِعِهِ (۱۰) عَبْدٌ لِمُوسِرِيْنِ دَبَّرَهُ وَاحِدٌ، وَحَرَّرَهُ آخَرُ ضَمَّنَ السَّاكِتُ الْمُدَبِّرَ، وَالْمُدَبِّرُ الْمُعْتِقَ ثُلُثَهُ مُدَبَّرًا لَا مَا ضَمِنَ

ترجمه: که واخیسته نصف حصه دغلام اجنبی بیا واخیسته پلار مابقی نو اجنبی ته اختیار دی چې پلار ضامن جوړ کړي یا په غلام کسب وکړي، او که چا واخیست دخپل زوی نصف له داسي کس څخه کوم چې د دي غلام دکل مالک وو نو پلار ضامن نه دی بائع لره، یو غلام دی د دو غنی کسانو مدبر جوړ کړیوه او ازاد کړ دوهم نو ضامن دي جوړ کړي هغه پټه خوله والا مدبر او د مدبر ازادونکی د حالت مدبری د ثلث قیمت نه د هغه قیمت دکوم چې دی ضامن شوی دی.

تشریح:(۸)که دغلام نیمی حصه اجنبي واخیسته او بیا وروسته باقي حصه دهغه غلام پلار واخیسته نو اوس واجنبي ته اختیار دی که ئې خوښه وي دخپلي حصي ضمان دي دغلام له پلار څه وصول کړي ځکه پلار دهغه حصه فاسده کړه او دتیرشوي صورت برعکس داپه دا افساد باندي راضي هم نه ده، او که ئې خوښه وي نو له غلام څه دي دکټي غوښتنه وکړي ولي چې دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد دمعتق غنی کیدل م له غلام څه دکټي غوښتني کولو مانع نه ده لهذا که پلار غني وي نو هم دغلام څه کټه غوښتل صحیح ده.

(۹)که پلار دخپل زوی نصف حصه له داسي شخص څه واخیسته چي هغه دده دټول زوی مالک وو ظاهره ده چې پلار دبائع نصف حصه هم ضرور آزاده کړله نو دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد داپلار دبائع دحصي ضامن نه کیږي ځکه بائع خپله دهغه غلام په آزادی کي له پلار سره شریک دی له دې وجې چې دنصف حصي خرخولو صدور له بائع څخه په خوشي شویده.

(۱۰)یوغلام دد و غنیانو په مینځ کي مشترک وُ له دوی څخه یوه خپله حصه مدبر کړی بیا دوهم خپله حصه آزاده کړه او دریم خاموش پاته شو نو دادریم شخص دي له مدبرکونکي څخه دخپلي حصي وصول کړي ولي چې دخاموش په حصه کي دمدبر کونکي له تدبیر څه نقصان راغي لهذا وخاموش ته دخپلي حصي قیمت وصول کولو حق شته او مدبرکونکی به له آزادونکی څخه دغلام مدبرکیدلو په حالت کي یو مناسب قیمت واخلي ځکه تر اوس دمدبرکونکي په غلام کي حق موجود وی دادوهم غلام آزاد کری دهغه حق یي ورفاسد کری، او مدبرکونکي به له آزادکونکي څخه هغه قیمت ه اخلي کوم قیمت چې ده وهغه خاموش ملګري ته بطورضمان ورکړی وو ولي چې آزادکونکي دهغه خالص حصه نه دفاسده کړي لهذا خالص دحصي دقیمت اخستلو حق نه لري، مثلاً دغلام قیمت ۲۷ دیناره ده نو ساکت به له مدبر کونکی ملګري څخه ۹دیناره واخلي ځکه د۲۷ثلث ۹ جوړیږي او مدبر به له معتق څخه ۶دیناره واخلي ځکه دیو غلام له مدبرکیدلو څه دهغه په قیمت کي یو ثلث کم والای راځي نو ګویا دغلام قیمت ۱۸ دیناره دي او د۱۸ ثلث ۶دیناره جوړیږي.

(۱۱)وَلَوْ قَالَ لِشَرِيكِهِ هِيَ أُمُّ وَلَدِكَ، وَأَنْكَرَ تَخْدُمُهُ يَوْمًا، وَتَتَوَقَّفُ يَوْمًا (۱۲) وما لِأُمِّ وَلَدٍ تَقَوُّمٌ فَلَا يَضْمَنُ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ بِإِعْتَاقِهَا

ترجمه: که چا خپل شریک ته وویل، دا مینځه ستا ام ولده ده، او هغه انکار وکړ نو مینځه به یوه ورځ دمنکر خدمت کوي او یوه ورځ به موقوف اوسیږي، او دام ولده هیڅ قیمت نشته او ضامن نه دی کوم یو له شریکینو څخه دهغې په ازادولو سره.

تشريح:(۱۱)په يوه مينځه کې دوه کسانو شريکان وو يو ه آبل ته وويل چې ،دامينځه ستاام ولده ده ،او هغه انکار کوی ويې ويل چې دازما ام ولده نه ده ،نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد به دامينځه يوه ورځ دانکارکولو والا خدمت کوې او يوه ورځ به موقوف اوسيږي ولې چې داقرار کولو والاکه په خپل اقرارکې صادق وي نو دمنکر لپاره پر مينځه پوره خدمت کول واجبيږي او که مقردرواغجن وو نو دمنکر لپاره نصف خدمت واجبيږي ځکه چې مينځه ددواړو مشترکه ده بيانو نصف خدمت چونکې يقيني دمنکرلپاره ثابتيږي او دمقرلپاره هيڅ خدمت په مينځه باندې نشته لهذا مينځه به يوه ورځ دمنکرخدمت کوې او يوه ورځ به دهيچاخدمت نه کوې.

(۱۲)دام ولدې قميت نشته ولې چې قيمت دهغه شئ واجبيږچې دمالدارې لپاره په خپله قبضه کې محفوظيږي حالانکه ام ولده صرف دنسب لپاره پاته کيږي دمالداری لپاره نه وي ،بيا که دمشترکې مينځې بچې پيداشو او دواړو مالکانو دبچې دعوه وکړه نو مينځه ددواړو ام ولده کيږي اوس که له دوی دوو څخه يوه خپله حصه آزادکړه نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد داددوهم دحصې ضامن نه کيږي ولې چې دام ولده ماليت متقوم نه دی.

(۱۳)لهٗ أعبُدٌ قال لاثنين أحدُكما حرٌّ فخرج واحدٌ ودخل آخرُ وكرّر ومات بلا بيانٍ عتق ثلاثة أرباع الثابت ونصف كلٍّ من الآخرين (۱۴)ولو في المرض قُسِّم الثلث على هذا

ترجمه :دچادري غلامان دي هغه دووته وويل له تاسي څخه يوازاددی نويووتی اودريم راغی مالک ياهغه خبره تکرارکړه اومالک مړشوله بيان کولو څخه وړاندې نوازاديږي دريعي دواړه ځله دثابت پاتې شوي والا،اودهريوه نصف ازاديږي له باقي دوو څخه ،اوکه داصورت په مرض الموت کې وي نو تقسيميږي به ثلث ترکه په مذکوره طريقه باندې.

تشريح:(۱۳)ديوه سړي درې غلام وو هغه له دوی څخه ۲مخاطب کړل ورته ويې ويل چې ،له تاسو څه يوآزاد دی ،اوس له هغو ۲څه يو له دې ځای ولاړی او دريم راغلې کوم چې دمالک دداخطاب په وخت کې نه وو اوس مالک بيا ودوی ۲ته همداشان وويل چې ،له تاسو ۲څه يوآزاددی ،او دايي وويل مالک مړشو او دابيان ئې نه وکړی چې زماپه نزد له غلامانو څه کوم يو آزاددی نو په داصورت کې درې ربع دهغه غلام دآزاديږي کوم يو چې په دواړو دفعه کې ناست وو او دباقي ۲ نصف نصف آزاديږي ولې چې د مالک له اول قول څخه دموجود غلامانو څه هريو دنصف حصې آزادولو حق داره دي لهذا نصف حصه دموجود دآزاده شوه او نصف حصه دتلونکي دآزادشوه او دوهم ځل هم هرغلام دنصف حصه آزادولوحق داره دی اودادويم وارازادي چې ده دابه دموجودغلام پرکل باندې تقسيميږي نودنصف نصف يعنی يوه ربع به دده دازادې حصې په مقابله کې راځي لهذا هغه باطل دی ولې چې دازادې حصې دازادولو څه معنی نشته اودباقي نصف نصف يعنی دوهمه ربع دده دغلامې حصې په مقابله کې راځي په دې دول دده نيمايې حصه لومړی ځل اويوه ربع دوهم ځل ازاديږي اودنصف اوربع مجموعه درې څلورمې دي اودپاتي دووبه نيمايې نيمايې ازاديږي.

(۱۴)او كه مذكوره بالاصورتونه په مرض الموت كې و مالك ته راغلل بيا تر بيان كولو مخكې مړشو او دميت ټوله تركه دادرې غلامان دي او ورثه تر ثلث تر كه زيندا اجازت نه وركوي نو دټولې تركې ثلث به په مذكوره بالا حساب پر غلامانو تقسيميږي ځكه دا په منزله دوصيت ده او داقاعده ده چې وصيت دتركې په ثلث كې جاركيږي لهذا دثلث تركې څه دغلام درې ربع ثابتيږي او نصف نصف دخارج او داخل لپاره دي ،او ثلث تركه به ۷حصې كړې له ۷حصو څه به ۳حصې هغه په دوړاه واره ويلو كې چې موجود غلام وُهغه آزادكړل شي او په دوو دوو حصيو به باقي دوه آزادكړل شي .

(۱۵)وَالْبَيْعُ وَالْمَوْتُ وَالتَّحْرِيرُ وَالتَّدْبِيرُ بَيَانٌ فِي الْعِتْقِ الْمُبْهَمِ(۱۶)لَا الْوَطْءُ(۱۷)وهو وَالْمَوْتُ بَيَانٌ فِي الطَّلَاقِ الْمُبْهَمِ

ترجمه:او بيع ،موت،آزادول ،او مدبر كول او هبه كول په عتق مبهم كې بيا ن دي ،او وطئ كول بيان نه دى ،او وطئ كول او موت په بيان دى په طلاق مبهم كې .

تشريح:(۱۵)غلام خرڅول ،غلام مړكيدل ،آزادول ،مدبر او هبه كول په عتق مبهم كې بيان دى مثلاكه ديو سړي دوه غلامان وو هغه ودوى دوو ته خطاب وكړ ويې ويل چې ،له تاسو څخه يو آزاد دى .نو داآزادول مبهم دي اوس هغه په خپله له هغو څخه يو خرڅ كړيا يې آزادكړيايې چاته هبه كړيايو مړشو نو اوس داپاتي دوهم يوآزاديږي او د دي افعالو په وجه سره دامعلوميږي چې هغه په هغه وخت كې داپاتي يو آزادكړى وو ولى چې دمالك له اول كلام څخه په دواړو كې عتق متردد ثابت شو ،اوهغه دواړه په دي كې سره برابردي بيا چې يې له دواړو څخه يو خرڅ كړيايې آزادكړيامړشو يايې مدبر كړيايې چاته هبه كړ نو دوهم بلاتعيين دعتق لپاره متعين كيږي ولى چې اوس دهغه كوم مزاحم نشته .

(۱۶)قوله لاالوطى اى ليس الوطى بيان فى العتق المبهم ،يعني وطى كول په عتق مبهم كې بيان نه دى مثلا كه مالك خپلو دوو منيځوته وويل چې ،له تاسو دواړو څخه يوه آزاده ده ،بيايې له يوي سره وطى وكړه دادد ي امردليل نه دى چې دوهمه مينځه نو آزاده ده ولې چې په دواړو كې ملك باقي دى په دي وجه عتق مبهم معلق بالبيان كيږي او معلق بالشرط دشرط له وجود څخه وړاندي نه واقع كيږي داوجه ده چې مالك له دوئ دواړ څخه دخدمت اخيستلو حق لري،او له مينځې سره وطى كول له قبيل داستخدام دى ولى چې له مينځې سره وطى كول ..قضاء شهوت لپاره كيږي او دتوالدلپاره نه وي لهذا نو ديوې له وطى كولو څخه دهغې باقي كيدل او دوهمه آزاده ل نه مرا..يږي .

(۱۷)البتة وطى كول په ... مبهم كې بيان دى (په دي شرط چې طلاق بائن وي)مثلا ديوسړي دوې ښځې وي هغه ودوى دواړوته وويل ،له تاسو څه يوه طلاق ده ،بيا يې له دوى څخه ديوې سره وطى وكړه نو طلاق په دوهمه باندې واقع كيږي ځكه په نكاح كې له وطى كولو څه مقصود ولد كيږي بيا نو په دا صورت كې دولد قصدكول صيانت ولد لپاره په موطوءة كې استبقاء ملك دليل دى لهذا طلاق مبهم پر دوهمه ښځه باندې واقع كيږي .همداشان مړكيدل هم په طلاق مبهم كې بيان بلل كيږي مثلا په مذكوره صورت كې له دوى دوو څه يوه مړه شوه نو هم طلاق په دوهمه باندې واقع كيږي ځكه مړه شوې ښځه محل طلاق نه كيدلو له وجې په خپله دوهمه ښځه دطلاق لپاره متعين كيږي .

(۱۸) وَلَوْ قَالَ إِنْ كَانَ أَوَّلُ وَلَدٍ تَلِدِيْنَهُ ذَكَرًا فَأَنْتِ حُرَّةٌ فَوَلَدَتْ ذَكَرًا وَأُنْثَى، وَلَمْ يَدْرِ الْأَوَّلُ رَقَّ الذَّكَرُ وَعَتَقَ نِصْفُ الْأُمِّ وَالْأُنْثَى (۱۹) وَلَوْ شَهِدَا أَنَّهُ حَرَّرَ أَحَدَ عَبْدَيْهِ أَوْ أَمَتَيْهِ لَغَتْ (۲۰) إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ فِي وَصِيَّةٍ أَوْ طَلَاقٍ مُبْهَمٍ

ترجمه: او كه يې وويل، اول بچې كوم چې ته يې وزيږوې كه مذكرو نو ته آزاده يې، بيا دې هلك او انجلۍ دواړه وزيږول خو اول معلوم نه وو نو هلك غلام دی او نصف دمور او انجلۍ آزاديږي، كه دوو كسانو شاهدي وركړه چې هغه له دوو غلامانو څخه يو غلام يا له دوو مينځو څخه يوه مينځه آزاده كړې ده نو دا شاهدي لغوه ده، مګر كه دا په وصيت يا طلاق مبهم كې وو.

تشريح: (۱۸) كه يو مالک خپلې مينځې ته وويل چې، كوم بچی چې ته اول وزيږوې كه هغه هلک وو نو ته آزاده يې، بيا هغې هلک او انجلۍ دواړه وزيږول او دا معلومه نه شوه چې له دوئ څه اول كوم يو پيدا شو نو دا هلک غلام دی او دانجلۍ او دهغې دمور دهرې يوې نصف آزاديږي ولې چې كه اول هلک پيدا شوی وي نو دشرط دموجوديدلو له وجې مور آزاديږي او دهغې په اتباع كې لور هم آزاديږي ځكه مور دانجلۍ تر پيدا ينبت مخكې آزادشوې وه او كه انجلۍ اول پيدا شوې وه نو دشرط دنه موجوديدلو له وجې مور او انجلۍ دواړې مينځې اوسيږي ددواړوحالتونو رعايت كول كيږي دهريوېد نصف نصف دآزادی حكم وركړل شو، او هلک په دواړه صورتو كې غلام دی دانجلۍ اول پيدا كيدو په صورت كې ظاهره ده او دهلک په اول پيدا كيدو په صورت كې بيا له دې وجې نه آزاديږي چې دانجلۍ پيدا ينبت دمور دآزادی لپاره شرط دی او شرط تر مشروط مقدم كيږي لهذا مور دانجلۍ تر پيدا ينبت وروسته آزاديږي له دې وجې هلک دمور تابع نه كيږي.

(۱۹) كه دوو كسانو په شخص باندې شاهدي وركړه چې، هغه دخپلو دوو غلامانو څه يو آزاد كړی دی يا، دخپلو دوو مينځو څه يوه آزاده كړې ده، نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد په دواړو صورتو كې شاهدي لغو كيږي په اول صورت كې له دې وجې چې دغلام دآزادی شاهدي دغلام له طرف څه ددعوی كولو بغير مقبوله نه ده نو چې كله دلته دعوی او مدعی دواړه نشته ځكه له غلامانو څه يو مبهم آزاددی له دې وجې څخه له دوی څه يو هم مدعی نه شي جوړيدلای نو چې مدعی نه وې دعوی بيا سنګه كيدلاشي، او په دوهم صورت كې دمينځې په حق كې كه څه هم دعوی شرط نه ده ليكن پر عتق مبهم باندې شاهدي وركول مردود ده له دې وجې په دوهم صورت كې هم شاهدي لغوه ده.

(۲۰) البته كه شاهدي په وصيت كې وه مثلا دوو كسانو شاهدي وركړه چې فلان شخص په مرض الموت كې دخپلو غلامانو څه يو آزاد كړی نو دا شاهدي بالاتفاق قبوله ده ځكه په مرض الموت كې اعتاق وصيت دی او خصم يعنې دموصي خليفه وصي يا وراث موجود دی لهذا دعوه دخليفه له طرفه څه ثابت شوه او پر دعوی باندې دشاهدۍ مدار دی لهذا داګواهي معتبره ده، همدا شان كه شاهدي په طلاق مبهم كې وه مثلا دووشاهدانو وويل چې، فلان شخص له خپلو دوو ښځو څه يوې ته طلاق وركړی ده، نو داشاهدي مقبوله ده ځكه په طلاق كې تحريم فرج دی هغه دشريعت حق دی او په هغې كې دعوی شرط نه ده لهذا په طلاق مبهم كې ګواهي معتبر كيږي.

بَابُ الْحَلْفِ بِالدُّخُوْلِ

دا باب دقسم اخستلو په دخول سره په بيان كې دی

دلته په آزدولو باندې قسم كولو څه مراد دغلام آزادې په يو شرط پورې معلق كول دی.

مصنف رحمه الله دتنجيزې عتق له مسائلو څخه فارغ شو اوس يې دتعليقې عتق مسائل شروع كړې څكه تعليق تر تنجيزوروسته وي.

(١) وَمَنْ قَالَ إِنْ دَخَلْتُ الدَّارَ فَكُلُّ مَمْلُوكٍ لِي يَوْمَئِذٍ حُرٌّ عَتَقَ مَا يَمْلِكُ بَعْدَهُ بِهِ (٢) وَلَوْ لَمْ يَقُلْ يَوْمَئِذٍ لَا (٣) وَالْمَمْلُوكُ لَا يَتَنَاوَلُ الْحَمْلَ

ترجمه: كه يو چا وويل ،چې كه زه كورته داخل شوم نو زماچې څومره مملوك دي په داورځ هغه ازاد دي ،آزاديږې دكوم چاچې هغه مالك شئ له داوروسته دداشرط له وجې ،او كه يې لفظ يومئذ نه وو ايو بيانه آزاديږې ،او مملوك وحمل ته نه شامليږې.

تشريح: (١) كه يو شخص داوويل چې ،كه زه كورته داخل شوم نو په داورځ كې چې زماڅومره مملوك وو هغه ټول آزاددي ،نو له داويلو وروسته چې څومره غلامان دده په ملك راشي دده وكورته دداخليدلو له وجې هغه ټول آزاديږي ولې چې دقائل په داقول كې ،يومئذ ،په معنى د ،يو م اذادخلت الدار ،ده بيا ،دخلت الدار ،حذف شو دهغې په عوض كې تنوين راوړی لهذا ددخول دار په وخت كې قيام ملك معتبر دی بيا نو ددخول دار په وخت كې چې دڅومره غلامانو مالك شي هغه ټول آزاديږي.

(٢) قوله ولو لم يقل يومئذ لا اى لو لم يقل يومئذ لا يعتق من ملكه بعد اليمين .يعنى كه قائل لفظ ،يومئذ ،نه وو ايو بلكه داسې وويل ،ان دخلت الدار فكل مملوك لى حرّ ،نو په داوخت كې چې دكوم چا مالك دی هغه آزاديږي او دكوم چاچې له داويلو وروسته دی مالك شي هغه نه آزاديږی څكه داجمله دفى الحال وقوع الحريت لپاره ده البتة تر شرط معلق كيدو له وجې څه داآزادې تر وقوع الشرط پورې مؤخر كيږې لهذا وجود الشرط په وخت كې دهغه په ملك كې چې كوم غلام دی هغه آزاديږي ،او كه ديمين په وخت كې دهغه په ملك يو غلام نه وو نو يمين لغو كيږي.

(٣) او دمملوك لفظ حمل ته نه شامليږي څكه لفظ مملو ك مطلق غلام ته شامليږي او حمل مطلق نه دی بلكه دمور تابع دی لهذا حمل تر مطلق مملوك لاندې داخل نه دی ،بيا كه يو چاوويل زماچې څومره مذكر مملوك دی هغه آزاددي ،او دهغه يوه مينځه حامله وه بيا هغې د ٦ مياشتو دننه هلك وزيږوی داهلك نه آزاديږي.

(٤) كُلُّ مَمْلُوكٍ لِي أَوْ أَمْلِكُهُ حُرٌّ بَعْدَ غَدٍ أَوْ بَعْدَ مَوْتِي يَتَنَاوَلُ مَنْ مَلَكَهُ مُنْذُ حَلَفَ فَقَطْ (٥) وَبِمَوْتِهِ عَتَقَ مَنْ مَلَكَ بَعْدَهُ مِنْ ثُلُثِهِ أَيْضًا

ترجمه: زماټول مملوك يا دكوم چا چې زه مالك شم هغه آزاددی تر صباوروسته او يا زماتر مرګ وروسته نو داصرف وهغه غلام ته شامليږي دكوم چا چې هغه دحلف په وخت كې مالك وو ،او دهغه له مرګ وروسته هغه غلام هم آزاديږې دكوم چې دی له شرط وروسته مالك شوی وي دهغه دتركې له ثلث څه (آزاديږې).

تشريح: (٤) كه يو چا وويل چې ،زماچې څومره مملوك دی هغه له سبا ورځې وروسته آزاددي يا زماتر مرګ وروسته آزاددي ،نو دده داقول فقط وهغه غلام ته شامليږي دكوم چا چې داشخص دقسم اخستلو په وخت كې مالك وي څكه په ،كل مملوك لى ،كې جاراومجرور تر ،ثابت ،پورې متعلق دی او ،ثابت ،اسم فاعل دی او اسم فاعل دمذهب مختار مطابق دحال لپاره وضع دی نه داستقبال لپاره ،همداشان كه يې وويل

دکوم چاچې زه مالک شم هغه له سبا وروسته آزاددي يازماتر مرګ وروسته آزاددي ،نو هم صرف هغه غلام آزاديږي دکوم چاچې داشخص دقسم اخستلو په وخت کې مالک دی ځکه ،کلّ مملوک املکه ،دفي الحال لپاره استعماليږي له دې وجې چې لفظ ،املکه ،فعل مضارع ده او هغه دحال لپاره بلاقرينه او داستقبال لپاره په قرينه دسين ياسوف استعماليږي لهذا له داقسم وروسته چې ده کوم څوک واخيست وهغه ته داقول شامل نه دی .

(۵)او دمالک دمرګ په صورت کې هغه غلام آزاديږي دکوم چاچې هغه في الحال مالک دی لامر،همداشان دطرفينو رح په نزد هغه غلام هم له ثلث مال څه آزاديږي دکوم چې هغه له شرط وروسته مالک شوی دی ولې چې داايجاب عتق په طريقه دوصيت دی داوجه ده چې له ثلث مال څه آزاديږي او په وصيت کې دموت حالت مقصود يږي لهذا داوهغه ته هم شامليږي دکوم چاچې په وخت دموت کې مالکيږي ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزد دکوم غلام چې ديمين نه وروسته مالک شي هغه نه آزاديږي ځکه دالفظ حقيقة دحال لپاره دی کمامرّ.

بَابُ الْعِتْقِ علی جُعْلٍ

دادمال په عوض کې آزادولو په بيان کې دی

جعل بضم الجيم ديو عمل وأجرت ته ويل کيږي دلته دعتق عوض مراد دی ،دمال په عوض کې آزادول دتعليق په معنی کې دی په دې وجه مصنف رحمه الله ،باب العتق علی جعل ،پر باب تعليق باندې مرتب کړی .

(۱)حَرَّرَ عَبْدَهُ عَلى مَالٍ فَقَبِلَ عَتَقَ (۲)وَلَوْ عَلَّقَ عِتْقَهُ بِأَدَائِهِ صَارَ مَأْذُوناً وَعَتَقَ بِالتَّخْلِيَةِ (۳)وَإِنْ قَالَ أَنتَ حُرٌّ بَعْدَ مَوْتِي بِأَلْفٍ فَالْقَبُولُ بَعْدَ مَوْتِهِ (۴)وَلَوْ حَرَّرَهُ عَلى خِدْمَتِهِ سَنَةً فَقَبِلَ عَتَقَ وَخَدَمَهُ (۵)فَلَوْ مَاتَ تَجِبُ قِيمَتُهُ

ترجمه:که ئې خپل غلام په مال سره آزادی کړی غلام قبول کړی نو آزاديږي ،او که ئې دهغه آزادي دمال په ادائګې باندې معلق کړه نو مأذون ګرزيږي او دمال له حاضرولو څه آزاديږي ،او که ئې وويل ته زماله مرګ وروسته د(۱۰۰۰) روپو په عوض کې آزاد يې ،نو قبلول له مرګ وروسته معتبريږي او که يې غلام ديو کال خدمت کولو په عوض کې آزاد کړی بيا هغه قبول کړه نو آزاديږي او دهغه خدمت به کوي ،او که مالک مړشو نو دغلام قيمت واجب دی .

تشريح:(۱)که يو چا خپل غلام دمال په عوض کې آزاد کړی مثلا غلام ته يې وويل ،انت حرّ علی الف درهم او بالف درهم ،او غلام په دامجلس کې قبول کړه نو داصحيح دی،او غلام في الحال آزاديږي ځکه داعوض المال بغير المال دی او دمعاوضه والاپه معامله کې محض دعوض قبلولو څه حکم ثابتيږي لهذا غلام في الحال آزاديږي ،او مال مشروط دغلام په ذمه دين کيږي ځکه غلام خپله دهغه التزام کړی دی .(۲)که يې دغلام آزادي دمال تر اداکولو معلق کړه مثلا وويل،ان اديت اليّ الفا فانت حرّ،(که تاماته (۱۰۰۰)روپی راکړې نو ته آزاد يې)نو داتعلق صحي دی او غلام مأذون في التجارة ګرزيږي ځکه دمال اداکيدل بغير کسب او تجارة نه شي کيدلای لهذا دادلالة اذن دی ،اوس داغلام صرف په تخليه سره آزاديږي له تخليه څه

مراد دادی چې غلام دخپل مالک په مخکې مال داسې واخلې لکه هغه چې دمالک لپاره اخلې مال دمالک په لاس کې ورکول ضروري نه ده ،که غلام مال مشروط حاضر کړی نو حاکم به مولی دمال پر اخستلو مجبورکوي او غلام آزادیږي.

(۳)که مولی وخپل غلام ته وویل چې ،ته زماله مرګ وروسته (۱۰۰۰)دروپو په عوض کې آزادیي ،نو دغلام له طرف څخه دهغه خبر ه منظورول دمولی له مرګ وروسته معتبریږي ځکه مولی دایجاب اضافت ومابعد الموت ته کړی دی او قبول ترایجاب مخکې معتبرنه دی دانو داسې شولکه یو څوک چې وخپلې ښځې ته ووایي ،انت طالق غدا ان شئت ،ترصباراتللو مخکې دښځې مشیت نشته.

(۴)که یوچا غلام دیوکال خدمت کولو په عوض کې آزادکړی مثلا وغلام ته یې وویل ،دیوکال خدمت کولو په عوض ما ته آزادکړی یې ،او هغه قبول کړه نو غلام آزادیږي ځکه مولی دمعلوم خدمت په عوض کې دهغه دآزادی حکم کړی دی لهذا آزادي پر خدمت قبلولو باندې معلق ده بیا نو چې کله هغه قبول کړه نو آزادیږي ،اوس به غلام یوکال دمولی خدمت کوي ځکه غلام مبدل مل ګیا .او دهغه په ذمه بدل واجبیږي او دخدمت عوض جوړل هم کیږي.

(۵)که مولی تر یوکال خدمت کولو مخکې مړشو نو په هغه غلام باندې دخپل ځان قیمت ورکول واجب دی ځکه خدمت منفعت دی او په منفعت کې وراثت نه چلیږي نو عین منفعت دمولی تر مرګ وروسته باقې پاته کیدل ممکن نه دی لهذا قیمت واجبیږي.

الغاز:ای عبد علّق علی شرط ووجد ولم یعتق؟

فقل:اذاقال له ،ان صلیت رکعة فانت حر فصلاها لم تکلم ،ولوصلی رکعتین عتق ،فالرکعة لابد من ضم اخری الیها لتکون جائزة.(الاشباه والنظائر)

(۶) وَلَوْ قَالَ أَعْتِقْهَا بِأَلْفٍ عَلَى أَنْ تَزَوَّجَنِيهَا فَفَعَلَ فَأَبَتْ أَنْ تَتَزَوَّجَهُ عَتَقَتْ مَجَّانًا (۷) وَلَوْ زَادَ عَنِّي قُسِّمَ الْأَلْفُ عَلَى قِيمَتِهَا وَمَهْرِ مِثْلِهَا وَيَجِبُ مَا أَصَابَ الْقِيمَةَ فَقَطْ

ترجمه:که مولی وبل چاته وویل دامینځه د(۱۰۰۰)روپو په عوض کې آزاده کړه په دې شرط چې هغه به زماسره نکاح کوي بیا مالک آزاده کړه او مینځې له هغه دنکاح کولو څه انکار وکړی نو مفت آزادیږي ،او که یې لفظ دعنّی ،زیات کړی نو بیا زرروپې دمینځ په قیمت او مهرمثل باندې تقسیمږي او صرف هغه واجبیږي کوم چې ددې دقیمت مقابل وي.

تشریح:(۶)که یوچا دمینځې ومالک ته وویل ،چې ته دامینځه د(۱۰۰۰)روپو په عوض کې په دې شرط چې هغه به زماسره نکاح کوي آزاده کړه ،بیامالک دهغه دویلو پربناء باندې خپله مینځه آزاده کړه اوس هغه وخپلې مینځې ته وویل چې زه ستانکاح له داشخص سره کوم مینځې له هغه سره دنکاح کولو څه انکار وکړی نو دامینځه دمالک له طرف څخه مفته آزادیږي او په عتق سره امرکونکي باندې هیڅ شئ نه واجبیږي ځکه دیواجنبی په بدل شرط باندې طلاق کول جائزدی عتاق جائزنه دی لهذا پرآمر باندې هیڅ شئ نه لازمیږي.

(۷)که یو اجنبي شخص وویل چې د(۱۰۰۰)روپو په عوض کې زماله طرف دامینځه آزاده کړه یعنی د لفظ،عنّي ، اضافه یي وکړه باقي مضمون یي دپورته والابیان کړی نو اوس دازرروپی ددغې مینځې په قیمت او دهغې په مهر مثل باندې تقسیمیږي کوم چې دقیمت په مقابل کې راشي هغه پر دااجنبي باندې واجبیږي ولې چې کله هغه ،عنّي ،ووایو نو داقول اقتضاء شرط ته متضمن دی ګویا آمروهغه ته وویل ،بع امتک بالف درهم هم کن وکیلي عنی الاعتاق علی ان تتزوج منی ،بیانو دا(۱۰۰۰)روپی دشراء اونکاح له وجې دهغې درقبې او بضع په مقابل کې دي ،نو اوس چې کوم شئ هغه ته حواله کړی یعنی رقبه دهغه حصه پرداشخص باندې واجب ده او کومه حصه چې یي وهغه ته نه دحواله کړې یعنی بضع نو دهغې حصې په مقابل کې چې کوم حصه ده هغه باطلیږي .

بَابُ التَّدْبِيرِ

داباب دتدبیر په بیان کې دی

تدبیرلغةً دیو امر دانجام پوره کیدلوته ویل کیږي ،او شرعاً دغلام آزادې تر خپل مرګ پورې معلق کولو ته ویل کیږي .

له ماقبل سره یي مناسبت دادی چې ،تدبیر،اعتاق مقید بمابعدالموت دی،او مقید په منزله دمرکب کیږي او مرکب تر مفرد وروسته وي له دې وجې له مطلق اعتاق وروسته مقید بمابعدالموت ذکروکړی.تر استلاد یي له دې وجې مقدم ذکر کړی چې ،تدبیر،مذکر او مؤنث دواړو ته شامل دی او استیلاد دمؤنث سره خاص دی.

(۱)هو تعليق العتق بمطلق موته (۲) كإذا مت فأنت حر او انت حر يوم اموت او عن دبر مني او مدبر او دبرتك فلا يباع ولا يوهب (۳) ويستخدم ويؤجر وتوطأ وتنكح (۴) ويعتق به من ثلثه (۵) ويسعى في ثلثيه لو فقيرا (۶) وكله لو مديونا

ترجمه :هغه آزادي معلق کول ده تر خپل مطلق مرګ پورې ،مثلا داسې ووایي چې کله زه مړشم نو ته آزادیې یاته آزادیې په کومه ورځ چې مړشم ،یازماوروسته ،یا ته مدبریې یاماته مدبر کړې بیانو هغه نه خرڅیږي او نه هبه کیږي ،البته له هغه څه خدمت اخستل کیدای شي ،و په مزدورې باندې ورکول کیږي (که مینځه وه)وطئ ورسره کیداشي او نکاح ورسره کیداشي ،او دمولی له مرګ څه دهغه له ثلث ترکه څه آزادیږي ،او کټه به کوي په دوه ثلث کې که مالک فقیر وو ،او په ټول کې به کټه کوي که مالک مقروض وو.

تشریح :(۱)مصنف رحمه الله دتدبیرتعریف کوي چې دغلام یامینځې آزادي فقط ترخپل مرګ پورې معلق کولو ته په شریعت کې تدبیرویل کیږي.دموت مطلق ویلوسره له موت مقید څه احترازدی ولې چې په موت مقید سره معلق کول تعلیق بالشرط دی تدبیرنه دی ، موت مقید دادی چې یو څوک داسې ووایي چې ،که زه له دامرض څه مړشوم یا په داسفرکې مړشوم نو ته آزادیې.

(۲)قوله کاذامت فانت حر ای کقول المولی لعبده اذامت فانت حر .یعنی دتدبیرالفاظ دادي مثلا مولی وخپل غلام ته ووایي ،چې کله زه مړشم نو ته آزاد یې ،یاووایي ،ته آزادیې په کومه ورځ کې چې زه مړشم ،یاووایي ،ته

ترماوروسته آزادېږي ،یاووایې ،ته مدبر يې ،یاووایې ،ماته مدبر کړې ،نو په دغوټولوصورتوکې غلام مدبر کېږي ځکه دا الفاظ په تدبیر کې صریح دي نیت ته محتاج نه دي .بیانو چې کله غلام مدبرشو نو اوس هغه نه خرڅیږي او نه هغه هبه کیږي یعني اوس هغه ویوچا ته تملیکا ورکول جائز نه دی ،لماروی ابن عمر أن النبي صلى الله عليه وسلم قال { إن المدبر لا يباع ولا يوهب ولا يورث وهو حر من الثلث .همدا شان مروي دی چې حضرت عمر ﷺ دصحابه کرامو ﷺ په موجودګۍ کې دمدبربیع ردکړې وه بیانو دادهغه له طرف دمدبرپه عدم جوازبیع اجماع ده ،البته ترمرګ مخکې هغه آزادیدلای شي .

(۳)که یوچا خپل غلام مدبرجوړکړی نو اوس مولی له څه خدمت اخستلای شي او ویوچا ته یې په اجرت ورکولای شي او که مدبره وینځه وي له هغه سره وطئ کیدلای شي او جبرا هغه ویوچا ته په نکاح ورکولای شي ځکه دمولی ملک قائم دی او دملک دبقاء له وجې څه مولی ته ددغو تصرفاتو ولایت حاصل دی .

(۴)مولی خپل غلام مدبر کړی وو او اوس مولی انتقال وکړی ،یعني مړشو ،نو مدبر دمولی له ثلث مال څه آزادیږي ولې چې دحدیث بالاپه آخرکې وو .وهو حرّ من الثلث ،(هغه آزدیږي له ثلث څه)همدا شان تدبیر په اصل کې دوصیت په حکم کې رازي له دې وجې چې تدبیر تبرع مضاف الی الموت ده او دوصیت وقوع له مرګ وروسته کیږي او وروسته له مرګ واقع کیدلو له وجې څه له ثلث مال څه آزادیږي

(۵)که مولی فقیروو نو مدبر به دخپل قیمت دوه ثلث په آندازه ګټه وورثه وو ته ورکوې یعني دمولی ترکه له مدبر څه سوا بل مال نه ؤ نو په داسې صورت کې دمدبر آزادي في الحال ده لیکن مدبر به دخپل قیمت دوې حصې د ورثه ؤلپاره ګټي ځکه دمدبرآزادي دمولی دې ترکه له ثلث څه کیږي لهذا دمدبر یوثلث دمولی له ترکه څه آزادیږي په باقي دوه ثلث کې به دورثه ؤلپاره مزدوري کوي .

(۶)که مولی مقروض وو نو مدبر به خپل ټول قیمت ګټي ورثه ؤته به یې ورکوې یعني که دمولی په ترکه کې صرف مدبروو او پر دې زیات پر مولی باندې قرضه هم وه او قرضه هم دومره وه چې دمدبر له قیمت سره برابر یازیاته وه نو اوس به مدبر خپل ټول قیمت ګټي او ورثه ؤ ته به یې ورکوې ولې چې قرضه تر وصیت مقدمه ده او دمدبر عتق ماتول ممکن نه دی لهذا دمدبر قیمت به قرضخواهانو ته ورکول کیږي .

(٧) وبِيعَ لو قال إن مت من سفري أو مرضي أو إلى عشرِ سنين أو عشرين سنة أو أنت حرّ بعد موت فلانٍ (٨) وَيَعتق إن وجد الشرط

ترجمه:او خرڅول کیږي که مالک داسې ویلي وو ،که زه له دامرض څه مړشوم یا په داسفر کې مړشوم یا تر لسوکالو پورې نو ته آزادیې یا ته دفلانې له مرګ وروسته آزادیې ،که شرط موجودشو نو آزادیږي .

تشریح:(٧)که مولی وخپل غلام ته داسې وویل ،که زه په دا مرضې کې مړشوم یازه په داسفر کې مړشوم یا په لس کاله کې دننه زه مړشوم .یائې وویل چې ،دفلان شخص له مرګ وروسته ته آزادیې .نو دداغلام خرڅول جائز دي ځکه دموت په داصفت باندې واقع کیدل یقیني نه ده بیانو سبب دآزادی في الحال نه منعقدکیږي او چې کله سبب منعقدنه شو نو دادنورو تعلیقاتو په شان معلق کیږي او په هغه کې تصرف نه ممنوع کول کیږي له دې وجې څه دهغه بیع ،هبه وغیره جائزدي ،وداقسم مدبرته مدبرمقید ویل کیږي تر دامخکې چې دکوم مدبر بیان وو هغه مدبر مطلق ؤ په دغو دواړو قسموکې فرق دادی چې د مدبر مطلق

خرڅول جائز نه دی لماروينا ،حالانکه دمدبر مقيد خرڅول جائز دی له دې وجې چې في الحال داغلام مدبر نه دی.

(۸)که مذکوره بالاصورتوکې شرط موجود شو يعنی مولی په هغه صفت کوم چې ده ذکرکړی وو مړشونو دمدبر مطلق په شان داهم مدبر هم آزاديږي ولې چې دزندګی په آخرې لمحه کې صفت مذکوره متعين شو تردختم شو نوداد مدبر مطلق په شان کيږي.

بَابُ الْاِسْتِيلَادِ

داباب داستيلاد په بيان کې دی

داستيلاد لغوي معنی دبچې طلب کول دی خواه له مينځې او که له منکوحې څه وی .او شرعاً مولی له مينځې څه دوطئ په ذريعه دبچې طلب کولو ته ويل کيږي.له ماقبل سره مناسبت دادی چې مدبر او ام ولده دواړو ته حق حريت حاصل دی مګر في الحال حريت ويوه ته حاصل نه دی ددامناسبت له وجې مصنف رحمه الله دتدبير وروسته داستيلاد ذکروکړی..

(۱)وَلَدَتْ أَمَةٌ مِنَ السَّيِّدِ لَمْ تُمْلَكْ (۲) وَتُوطَأُ وَتُسْتَخْدَمُ وَتُؤَجَّرُ وَتُزَوَّجُ (۳) فَإِنْ وَلَدَتْ بَعْدَهُ ثَبَتَ بِلَا دَعْوَةٍ بِخِلَافِ الْأَوَّلِ (۴) وَانْتَفَى بِنَفْيِهِ (۵) وَعَتَقَتْ بِمَوْتِهِ مِنْ كُلِّ مَالِهِ وَلَمْ تَسْعَ لِغَرِيمٍ

ترجمه:که مينځې له خپل مولی څخه بچی پيداشونو ددغې مينځې هيڅوک مالک نه شې جوړيدلای .او وطئ ورسره کيدلای شې او خدمت ځنې اخستل کيدلای شې او په مزدورې ورکول کيدلای شې او په نکاح ورکول کيدای شي .بيا که بچی پيداشو له هغه وروسته دهغه نسب له مولی څه بغير دعوې ثابتيږي .بخلاف داول بچې ،او دمولی په نفی کولو سره منتفی کيږي ،او دمولی له ټول مال څخه دهغه له مرګ وروسته آزاديږي او دمولی دقرضخواهانو لپاره به کټه نه کوي.

تشريح:(۱)که مولی له خپلې مينځې سره وطئ وکړي له هغې څخه دده بچی پيداشو او مولی اقرار وکړی چې دابچی زماله نطفه څه دی ،نو دامينځه دهغه ام ولده ګرځيږي لهذا دمولی لپاره اوس دامينځه .يوچا ته په ملکيت کې ورکول ،مثلا خرڅول ياهبه کول وغيره جائز نه دی ځکه حضور ﷺ دحضرت ماريه قطبيه په حق کې وويل . أعتقها ولدها ،(هغه دهغې ولد آزاده کړه).

(۲)البتهٔ مولی له هغې سره وطئ کولای شې او له هغې څخه خدمت اخستلای شې او هغه په اجاره ورکولای شي او هغه جبرا په نکاح ورکولای شې ولې چې دمولی ملکيت تراوس قائم دی لهذا مولی دمذکوره بالا تصرفاتو مجاز کيږي.

(۳)بيانوکه مولی دمينځې ديوبچې اقرار وکړی نو له دې وروسته چې مينځې کوم بچی وزيږوې دهغه بچی نسب دمولی څه بغير دمولی له اقرارثابتيږي دهغه لپاره دمولی داقرار ضرورت نشته ځکه داول بچی اقرار چې مولی وکړی مولی ثابته کړه چې ددامينځې سره دوطئ کولو څه دهغه مقصود ولد دی لهذا اوس دثبوت نسب لپاره دمولی داقرار ضرورت نشته .بخلاف داول بچې چې دهغه نسب له مولی څخه تر هغو نه

ثابتیږي تر څوچې مولی دهغه اقرارونه کړي ولې چې له مینځې سره دوطئ کولو څه مقصود قضاء شهوت کیږي ولدنه مقصودیږي لهذا دثبوت نسب لپاره دعوی لازمې ده بخلاف النکاح چې په هغه کې مقصود متعین دی بیادعوی نسب هیڅ ضرورت نشته.

(۴)قوله وینتفی بنفیه ای ینتفی نسب الولد الثالی بمجرد نفی المولی ،یعنی که مولی ددوهم بچې دنسب نفی وکړه نو صرف دنفی کولو څه دبچی نسب له مولی څه منتفی کیږي ،دنفی نسب لپاره دلعان هم ضرورت نشته ځکه دمینځه فراش ضعیف دی حتی چې که مولی دبل چا په نکاح کې ورکړه دهغې فراش کیدل ختم کیږي لهذا ددابچې نسب صرف له نفی کولو څه منتفی کیږي .بخلاف منکوحه چې دهغې فراش کیدل قوی دی لهذا صرف دنفی کولو څه دهغې دبچی نسب نه منتفی کیږي تر څوچې لعان نه وکړي.

(۵)دمولی له مرګ وروسته ام ولده دټولې ترکه څخه آزادیږي ځکه دانسان حاجت وخپل ولدته حاجتې اصلیه دی او دبچی ومورته حاجت اصلیه کیدلوکې دبچی مساوی دی لهذا دانسان حاجت وخپل ولدته حاجت اصلیه دی او دکوم شئ وطرف ته چې دانسان حاجت اصلیه وي هغه دتکفین په شان دورثه ؤ تر حق مقدم وي .او که پر مولی باندې قرض وو نوپه ام ولده باندې دخپل قیمت په آندازه دقرض غوښتونکو لپاره مزدوري کول هم لازمې نه ده لماقلنا.

(۶)وَلَوْ أَسْلَمَتْ أُمُّ وَلَدِ النَّصْرَانِيِّ سَعَتْ فِي قِيمَتِهَا(۷)وَإِنْ وَلَدَتْ بِنِكَاحٍ فَمَلَكَهَا فَهِيَ أُمُّ وَلَدِهِ(۸)وَلَوْ ادَّعَى وَلَدَ أَمَةٍ مُشْتَرَكَةٍ ثَبَتَ نَسَبُهُ وَهِيَ أُمُّ وَلَدِهِ(۹)وَلَزِمَهُ نِصْفُ قِيمَتِهَا وَنِصْفُ عُقْرِهَا لَا قِيمَتُهُ

ترجمه:که دنصرانی ام ولده اسلام راوړی نو دخپل قیمت په آندازه به ګټه کوي ،که دمینځې بچی له نکاح څه پیداشو بیامیړه دهغې مالک شو نو هغه دده ام ولده کیږي ،او که دمشترکې مینځې دبچی دعوی وکړه نو ددانسب ثابتیږي او هغه دده ام ولده جوړیږي ،او دهغه پر ذمه نصف قیمت دمینځې اونصف مهر لازمیږي نه دبچی قیمت.

تشریح:(۶)که دیونصرانی ام ولده مسلمانه شوه نو هغه به خپل قیمت ګټي ومولی ته به یې ورکوي ځکه په داکې دطرفینو رعایت دی چې مینځه به مکاتبه جوړه کړي له هغه څه به دکافر ام ولده کیدلوذلت لرې شي او وکافر ته به قیمت ورکړي له هغه څه به ضررلرې کړل شي هغه ضرر چې دهغه محترم ملک بلاعوض زائل نه شي.

(۷)که یوسړي دبل چا له مینځې سره نکاح وکړه او له هغې څخه یې بچی پیداشو بیا یو طریقه سره دازوج دهغې مینځې مالک شو نو دامینځه اوس دهغه ام ولده جوړیږي ولې چې دام ولدیت کیدلوسبب جزئیت دی یعنی په واسطه دولددمولی او مینځې کې جزئیت ثابتیږي او داجزئیت دام ولده کیدلو سبب دی او په مذکوره صورت کې پیداکیږي.

(۸)که یوه مینځه د۲کسانو په مابین کې مشترکه وه بیا هغې بچی وزیږوی او له شریکینو څه یوه دعوه وکړه چې ،دابچی زماڅخه دی ،نو ددابچی نسب له مدعی څه ثابتیږي ځکه نصف مینځه دهغه ملک ده له دې وجې دهغه دحصې په آندازه نسب ثابتیږي او دباقې مانده نسب هم ثابتیږي ولې چې نسب نه حصې

کیږي له دې وجې چې دهغه سبب (یعنی استقرار الحمل) حصې او اجزاء نه کیږي .او مینځه دد امدعی ام ولده کیږي ځکه دانه شي کیدلای چې دمدعی حصه ام ولده وي او باقی حصه قن وي .

(۹) او دبچی په مدعی باندې دخپل شریک لپاره دمینځې نصف قیمت لازمیږي ځکه دتکمیل الاستیلاد وروسته مدعی دخپل شریک دحصې هم مالک کیږي لهذا دشریک دحصې قیمت په هغه باندې لازمیږي .او په مدعی باندې نصف مهردمینځې هم واجبیږي ولې چې هغه له مشترکې مینځه سره وطئ کړیدي ،مگر دبچی قیمت په مدعی باندې لازم نه دی ولې چې دقیمت له اداکولو وروسته مینځه دمدعی ام ولده جوړیږي نو داځنې فهم میږي چې بچی هم دهغه په ملکیت کې پیداشوی دی له دې وجې دبچی هیڅ قیمت په مدعی باندې نه لازمیږي .

كِتَابُ الْأَيْمَانِ

داکتاب دایمانو په بیان کې دی

ایمان دیمین جمع ده ،او یمین په لغة کې دقوة په معنی دی قال الله تعالی ﴿لاخذنا منه باليمين﴾ ای بالقوة ،په همدې وجه ښی لاس ته یمین ویل کیږي ،دقسم په ذریعه سره ځکه چې دیوه کاردکولو یانه کولو عزم په پوره قوت سره ظاهره کیږي په دې مناسبت سره قسم ته یمین ویل کیږي ،او اصطلاحی تعریف یې مصنف رحمه الله په خپله کړی دی .

ف: حلف دقسم په معنی ،حالف قسم خورونکی ،محلوف علیه په کوم شئ چې قسم خوړل شوی وي ، یمین دکوم په پابندې نه کولو چې کفاره لازمیږي ،حنث دقسم ماتیدل ،او حانث قسم ماتونونکی .

کتاب الایمان له ماقبل سره مناسبت دادی چې په یمین ،نکاح ،طلاق او عتاق کې په هریوه کې هزل او اکراه مؤثرنه ده بیا ځرنگه چې په نکاح کې دعبادت معنی هم شته ځکه یې نکاح ترټولو مخته ذکرکړه ،او په طلاق سره ځرنگه چې دنکاح رفع کیږي په دې وجه طلاق له نکاح سره ډیر مناسبت لري ځکه یې له نکاح څخه وروسته طلاق ذکرکړ ،بیا په طلاق او عتاق کې ځرنگه چې داسقاط معنی شته ځکه یې له طلاق څخه وروسته عتاق ذکرکړ په دې دول نو دټولو په اخیرکې دیمین ذکرمناسب دی .خاص کړله عتاق سره یې مناسبت دادی چې لکه ځرنگه چې په عتاق سره په معتَق کې قوت حکمی حاصلیږي همداشان په یمین سره هم دقسم خورونکې په اراده کې ټینگښت راځي .

(۱) اليمين تقوية احد طرفي الخبر بالمقسم به (۲) حَلِفُهُ علىٰ مَاضٍ كَذِبًا عَمَدًا غَمُوسٌ (۳) وَظَنًّا لَغْوٌ وَأَثِمَ فِي الْأُولَىٰ دُونَ الثَّانِيَةِ (۴) وَعَلَىٰ آتٍ مُنْعَقِدَةٌ وَفِيهِ كَفَّارَةٌ فَقَطْ (۵) وَلَوْ مُكْرَهًا أَوْ نَاسِيًا (۶) أَوْ حَنِثَ كَذٰلِكَ

ترجمه :یمین مضبوط کول دي دخبرله طرفینو څخه یوه لره دمقسم به په ذریعه سره ،نو دچاپه درواغو سره قسم په تیرشوي باندې عمداً غموس دی ،او په گمان کولو سره لغو دی او گنهگاریږي په اول کې نه په دوهم کې ،او په راتلونکې باندې منعقده دی او په دې کې صرف کفاره ده که څه هم په زورسره وي یا په هیره سره وي ،یاحانث شي په همدې ځیر.

چې لکه څرنګه چې په عتاق سره په معتَق کې قوت حکمی حاصلیږي همداشان په یمین سره هم دقسم خوړونکي په اراده کې ټینګښت راځي.

(١)اليمين تقوية احد طرفي الخبر بالمقسم به (٢)حلفه على ماض كذبا عمدا غموس (٣)وظنا لغو (٣)واثم في الاولى دون الثانية (٣)وعلى آت منعقدة وفيه كفارة فقط (٥)ولو مكرها او ناسيا (٦)او حنث كذلك

ترجمه: يمين مضبوط کول دي دخبرله طرفينو څخه يو ه لره دمقسم به په ذريعه سره ،نو دچاپه درواغو سره قسم په تيرشوي باندي عمدا غموس دی ،او په ګمان کولو سره لغو دی او ګنهګاريږي په اول کې نه په دوهم کې .او په راتلونکي باندي منعقده دی او په دي کې صرف کفاره ده که څه هم په زورسره وي يا په هيره سره وي ،يا حانث شي په همدي څير.

تشريح :(١)مصنف رحمه الله ديمين شرعی تعريف کړی دی چې دخبرله دواړوطرفونو (يعنی جانت صدق اوجانب کذب) څخه يو دمقسم به (په کوم شي چې قسم وخوړل شي)په ذکرسره مضبوطولوته يمين ويل کيږي .

(٢)بيا يمين پردري قسمه دی ./نمبر١. يمين غموس.يمين غموس په تيرشوی کارعمدا په درواغو قسم خوړلوته ويل کيږي مثلا چا يو کار کړی وي او ورمعلوم هم وي چې مادا کار کړی دی بيا هم وايې والله مادا کار نه دی کړی ،نو دده دا قسم يمين غموس دی .دماضي (تيرشوی کار)قيد اکثری دی ولی چې که څوک في الحال په اثبات الشئ يا نفي الشئ باندي په درواغو قسم وخوري نودا هم يمين غموس دی .غموس له غمس څخه دی په معنی دادخال في الماء نو يمين غموس هم خپل صاحب له ګناه څخه وروسته په اورکي داخلوي.په داسي قسم خوړونکي باندي کفاره نشته هو توبه او استغفاربه کوي ولی چې يمين غموس ګناه کبيره ده دهغې ارتفاع په توبه او استغفارسره کيدای شي نه په کفاره سره . امام شافعی رحمه الله ديمين غموس په صورت کې دوجوب کفاري قائل دی .

(٣)قوله وظنا لغو اي حلفه على امر ماض ظانا ان الامر كما قال لغو ./نمبر٢.يمين لغو دادی چې دتيري شوي زمانې په کارقسم وخوړل شي مثلا و وايې .والله مادا فلان کار کړی دی او دده ګمان هم دغه وي چې دا کار ما کړی دی او په واقع کې دا کار ده نه وي کړی ،يا و وايې .والله مادا کار نه دی کړی او دده ګمان دا وي چې دا کار ما نه دی کړی حال دا چې په واقع کې ده هغه کار کړی وي ،امام محمد رحمه الله له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه نقل کړي دي چې مايجري بين الناس من قولهم لا والله ،بلى والله من غير قصد اليمين ،داهم يمين لغو دی .له حضرت عائشه رضي الله عنها څخه هم موقوفا او مرفوعا همداشان مروی دی.او په يمين غموس خوړلو سره حالف ګنهګاريږي ولی چې دنبی کريم ﷺ ارشاد دی چې کبيره ګناه له الله سره شريک نيول، دوالدينو نافرماني کول ،ناحقه دکوم نفس قتل کول او يمين غموس دی.او په يمين لغو کې اميد دادی چې الله تعالی به دصاحب يمين مؤاخذه ونه فرمايې لقوله تعالى : لا يؤاخذكم الله باللغو في أيمانكم (يعنی ستاسې په قسمو کې چې کوم لغو واقع شي دهغه مؤاخذه نه فرمايې).

(٣)قوله وعلى آت منعقدة اي حلفه على امر مستقبل منعقد ،يعنی دراتلونکي کوم کار په کولو يا نه کولو سره قسم خوړل يمين منعقده دی مثلا څوک و وايې .والله زه به سبق زده کوم ،يا والله زه به دفلانکی کورته ورنه شم

.ددي حكم دادى چې كه داكس حانث(دكوم كاردنه كولوقسم چې يې خوړلى ووهغه يې وكړدي كس تد حانث ويل كيږي)شونوپرده كفاره لازمه ده لقوله تعالى﴿وَلَكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ﴾ (ليكن په كوموسره چې تاسې قسمونه مضبوط كړل دهغه مؤاخذه فرمايې).كفاره صرف ديمين منعقده په صورت كې ده په باقي دووقسمونوكې كفاره نشته كمامر.

(۵)يعنى چاچې عمداقسم وخوړى اوپرچاچې دقسم خوړلولپاره زوروكړل شواوچاچې په هيره سره قسم وخوړى داټول په حكم كې برابردي حتى چې دحنث په صورت كې له دوئ څخه په هريوه كفاره لازميږي لقوله ﷺ (ثلث جدهن جدوهزلهن جدالنكاح والطلاق واليمين)(يعنى دري شيان داسې دي چې دهغوئ قصدهم عمددى اوهزل يې هم عمددى يعنى نكاح ،طلاق اوقسم).

(۶)همداشان كه چامحلوف عليه كارقصداوكړياچادى په محلوف عليه كاركولوباندي مجبوركړاوده دمجبوري په حالت كې محلوف عليه كاروكړيادده قسم په يادنه وواوده محلوف عليه كاروكړنوداټول صورتونه په حكم كې برابردي ولى چې اكراه اونسيان فعل حقيقي نه شي معدوم كولى لهذااكراه اونسيان په صورت كې هم پرده كفاره واجب ده.

(۷)وَالْيَمِينُ بِاللهِ تَعَالَى وَالرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ وَعِزَّتِهِ وَجَلَالِهِ وَكِبْرِيَائِهِ(۸)وَأُقْسِمُ وَأَحْلِفُ وَأَشْهَدُ وَإِنْ لَمْ يَقُلْ بِاللهِ(۹)وَلَعَمْرُ اللهِ وَأَيْمُ اللهِ وَعَهْدُ اللهِ وَمِيثَاقِهِ وَعَلَيَّ نَذْرٌ وَنَذْرُ اللهِ(۱۰)وَإِنْ فَعَلَ كَذَا فَهُوَ كَافِرٌ

ترجمه :اوقسم په الله سره اوپه رحمن اورحيم سره اوداللّٰه تعالى په عزة سره اودهغه په اوركې سره اودهغه په كبريائي سره كيږي ،اوه په الله سره قسم خورم اوحلف اخلم اوگواهي وركوم كه څه هم دبالله لفظ ونه وايې ،اوداللّٰه تعالى په بقاء سره او داللّٰه تعالى دقسم اوداللّٰه تعالى په عهداودهغه په پيمان سره اوپرمانذردى اوداللّٰه تعالى په نذرسره ،اوكه داسې وكړم نوزه كافريم.

تشريح :(۷)يمين داللّٰه تعالى په ذاتي نوم الله سره منعقدكيږي ياداللّٰه تعالى له نومونوڅخه كوم بل نوم وي لكه الرحمن،الرحيم،العليم،الحليم وغيره خواه كه په دي نومانوسره قسم خوړل متعارف وي اوكه نه وي.ياداللّٰه تعالى له ذاتي صفتونوڅخه يوصفت وي مگرشرط دادى چې په دي صفت سره به قسم خوړل په خلكوكې متعارف وي لكه بعزة الله وجلاله وكبريائه وملكوته وجبروته وعظمته وقدرته ولى چې په دي سره قسم خوړل متعارف دي.

ف:صفات بارى تعالى پردوه قسمه دي،ذاتي،فعلي .صفات ذاتي هغه دي چې دهغوئ په ضدسره الله تعالى نه شي متصف كيدلى لكه عليم حليم عزيز،كبيروغيره اوصفات فعلي هغه دي چې دهغوئ په ضدسره الله تعالى متصف كيدلى شي لكه غضب،سخط،رضاوغيره.دعلماء ماوراءالنهررائه داده چې ديمين مداريه عرف دى لهذا چيرته چې داللّٰه تعالى په كوم قسم صفت سره قسم خوړل متعارف وي په هغه سره قسم خوړونكى حالف كيږي.

(۸)كه چاوويل اقسم ،زه قسم خورم ياېې وويل زه حلف اخلم ،يازه شهادت وركوم نوداكس حالف شمارل كيږي كه څه هم احلف بالله يااشهدبالله ونه وايې يعنى لفظ الله ذكرنه كړي ولى چې داالفاظ په حلف كې مستعمل دي.

(۹)همداشان كه چاوويل ولعمرالله لافعلن كذايايې وويل وايم الله لافعلن كذانوهم به حالف وي ولې چې لعمرالله په معنى دبقاء الله (يعنى دالله تعالى په بقاء سره قسم)اوبقاء دبارى تعالى صفت دى لهذا داحلف بصفة من صفات الله دى، اوايم الله لافعلن كذا په معنى ديمين الله لافعلن كذا (يعنى دالله تعالى قسم)دى څكه په دې ويناسره هم حالف كيږي. همداشان كه چاوويل وعهد الله (دالله تعالى پرعهدقسم)يا وميثاق الله (دالله تعالى پرميثاق قسم)نوهم حالف دى ولې چې عهديمين دى قال الله تعالى ﴿وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ﴾ (يعنى پوره كړى دالله تعالى عهد)بيايې فرمايلې دي﴿وَلَا تَنقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا﴾ (خپل قسمونه مه ماتوئ له توكيدڅخه وروسته)اوميثاق دعهدپه معنى دى څكه نوپه دې دوه وصورتونوكې حالف كيږي .همداشان كه يې وويل على نذريا على نذالله نوداهم قسم دى لقوله ﷺ من نذرنذراولم يسم فعليه كفارة يمين (يعنى چاچې كوم نذروكړاوهغه يې بيان نه كړنوپردده دقسم كفاره لازمه ده).

(۱۰)كه چاداسې وويل ،كه ماداكاروكړنوزه به كافريم ،يايهودى يم ،يايې وويل زه به نصرانى يم وغيره نودايمين دى اودا كس حالف شمارل كيږي ولې چې كله ده شرط دكفرعلامت وګرځاوونودده دااعتقادشوچې دهغه پابندي لازمى ده اوله محلوف عليه څخه ځان ساتل واجب دى لهذا دايمين دى وقال ابن عباس ﷺ من حلف باليهود فهويمين (چاچې ديهودى والى قسم وخوړى نوهغه قسم دى).اوكه يې دادداسې فعل په باره كې وويل كوم چې ده له وړاندې څخه كړى دى نودايمين غموس دى .

ف :ياكه ده ته معلومه وي چې دايمين دى نودحنث په صورت دى نه كافركيږي اوده اعتقادداوي چې په داسې حلف سره كافركيږم نوكافركيږي ولې چې داقدام على الفعل په وجه سره دى په كفرراضى شواورضابالكفر كفردى .

(۱)لَا بِعِلْمِهِ وَغَضَبِهِ وَسَخَطِهِ وَرَحْمَتِهِ(۱۲)وَالنَّبِيِّ وَالْقُرْآنِ وَالْكَعْبَةِ(۱۳)وَحَقِّ اللَّهِ(۱۴)وَإِنْ فَعَلْتُهُ فَعَلَيَّ غَضَبُ اللَّهِ وَسَخَطُهُ(۱۵)أَوْ أَنَا زَانٍ أَوْ سَارِقٌ أَوْ شَارِبُ خَمْرٍ أَوْ آكِلُ رِبًا

ترجمه:نه په دې ويناسره چې دالله تعالى په علم اودهغه په غضب اودهغه په ناراضګى ،اودهغه په رحمت سره قسم اونبى اوقران اوكعبه ،اودالله تعالى په حق سره قسم ،اونه په دې ويناسره چې كه ماهغه كاروكړنوپرمادې دالله تعالى غضب وي اودهغه ناراضګې دې وي ،اوزه زانى يم اوغل ياشراب خوريا سودخوريم .

تشريح :(۱۱)قوله لا بعلمه اى لايكون يمينالوقال بعلم الله تعالى ،يعنى داويل بعلم الله تعالى (دالله تعالى په علم قسم)، يابغضب الله (دالله تعالى په غضب قسم)يابسخط الله (دالله تعالى په ناراضګى سره قسم) يابرحمة الله (دالله تعالى په رحمت سره قسم)نوداقسم نه دى كه څه هم داهم دالله تعالى له صفات ذاتيه وڅخه دي مګرځرنګه چې په دې سره قسم خوړل متعارف نه دي لهذاقسم نه دى.

(۱۲)قوله والنبى والقرآن اى لايكون يمينالوقال بالنبى لافعلن كذاوالقرآن لافعلن كذا،يعنى كه چاله الله تعالى ماسواپه بل باندې قسم وخوړى مثلاً وي ويل دنبى قسم ،دقرآن قسم ،دكعبه قسم ،نوداكس حالف نه شمارل كيږي ولې چې په دې سره قسم اخيستل متعارف نه دي ،اودغيرالله قسم خوړل منهى عنه دي لقوله ﷺ (من كان منكم حالفافليحلف بالله اوليذر)(په تاسې چې څوك هم قسم خوري هغه دې په الله قسم وخوري يادې پريږدي).

په نبی ،قرآن او کعبه سره د قسم اخیستلو حکم

ف:مګر څرنګه چې نن صباپه نبی ،قرآن اوکعبه سره قسم خوړل متعارف دی لهذاپه دوئ سره قسم اخیستونکی حالف شمارل کیږي.

(۱۳)قوله وحق الله ای لایکون یمینالوقال وحق الله ،یعنی که چاوویل وحق الله لافعلن کذانوهم حالف نه دی ولی چې له وحق الله څخه مرادطاعة الله دی نودیمین لغیرالله په وجه سره داحلف نه دی ،څرنګه چې په دي وخت کې په حق الله سره قسم خوړل متعارف دی ځکه نوپه دې سره قسم خوړونکی حالف شمارل کیږي.

(۱۴)قوله وان فعلته فعلی غضبه ای لایکون یمینابقوله ان فعلت الشئ الفلانی فعلی غضب الله ،یعنی که چادالله تعالی په صفاتوفعلیه کې په کوم یوه سره قسم وخوړی مثلاوي ویل ان فعلت کذافعلی غضب الله (که مافلانی کار وکړنوپرمادي دالله تعالی غضب وي)یایې وویل ان فعلت کذافعلی سخط الله (که مافلانی کاروکړنوپرمادي دالله تعالی ناراضی وي)نوداکس قسم خوړونکی نه دی ولی چې په دي الفاظوسره قسم خوړل متعارف نه دی.

(۱۵)قوله اوانازان ای لایکون یمینالوقال ان فعلت الشئ الفلانی فانازان ،یعنی که چاوویل که ماداکاروکړنوزه به زانی یاشراب خوریاسودخوریم ،نوداکس حالف نه شمارل کیږي ولی چې په دي الفاظوسره قسم خوړل متعارف نه دي لیکن که چیرته په دوي الفاظوسره قسم خوړل متعارف وي نودی حالف دی.

(۱٦)وَحَرْفُهُ الْبَاءُ وَالْوَاوُ وَالتَّاءُ وَقَدْ تُضْمَرُ (۱۷) وَكَفَّارَتُهُ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ أَوْ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ كَهُمَا فِي الظِّهَارِ (۱۸) أَوْ كِسْوَتُهُمْ بِمَا يَسْتُرُ عَامَّةَ الْبَدَنِ (۱۹) فَإِنْ عَجَزَ عَنْ أَحَدِهِمَا صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَةً وَلَا يُكَفِّرُ قَبْلَ الْحِنْثِ

ترجمه :اوحروف قسم باء اوواؤاوتاء دي اوکله کله حرف قسم مقدروي ،اوکفاره دقسم ازادول دي یاخورک ورکول دي لسومسکینانوته لکه څرنګه چې دادواړه په کفاره ظهارکې وي ،یادلسومسکینانو لباس دی په کوم سره چې هغه پټ کړي خپل اکثربدن ،نوکه عاجزشوپه دي دواړوکې له یوه څخه نودري روژي دي ونیسې متصلې اوکفاره دي نه ورکوي له حانث کیدلو څخه وړاندي.

تشریح :(۱٦)قسم په حروف قسم سره منعقدکیږي اوحروف قسم دري دي واؤلکه والله ،اوباء لکه بالله ، اوتاءلکه تالله، ولی چې له دوئ څخه هریوپه باب دیمین کې دقسم لپاره مقرراومروج دی اوپه قرآن کې مذکوردی ،اوکله کله حرف قسم مقدوي نوهم قسم خوړونکی حالف کیږي لکه الله لاافعل کذا ای والله الخ ،ولی چې دااختصارلپاره دحرف حذف کول په عربوکې متعارف اوددوئ عادت دی.

(۱۷)کفاره یمین دیوغلام ازادول دي ،که یې خوښه شوه نولس مسکینانوته دي خورک ورکړي ،یاکه یې غنم یاوړه ورکول نوهریوه مسکین ته دي نصف صاع ورکړي کوم چې دنن صباپه حساب سره پاوکم دوه سیره جوړیږي لیکن احتیاطادوه سیره ورکول بهتردي .اوکه یې خرمایااوربشي ورکولی نوهرمسکین ته دي یوه صاع (بحساب درهم ۲۷۰تولې اوبحساب مثقال ۲۷۳تولې)ورکړي ،یادي هرمسکین ته دوه وخته په ډک نس خورک ورکړي کمامرفی اطعام الظهار ،والاصل فیه قوله تعالی ﴿فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ﴾ (نوددي کفاره لسومحتاجانوته هغه خورک ورکول دي کوم چې تاسې خپل اهل اوعیال ته ورکوي یاهغوئ ته جامې ورکول دی یادغلام ازادول دي).په کفاره کې به غلام اواطعام په هغه ډول وي کوم چې په کفاره ظهارکې دی نوکوم غلام چې په کفاره ظهارکې کفایت کوي هغه

په کفاره یمین کې هم کفایت کوي یعنی دمسلمان غلام والي شرط نه دی .بلکه مسلمان، کافر، کوچنی،اولوی کوم یوچې هم وي کافی دی .له کفاره ظهارسره تشبیه به کیفیت کې ده په کمیت کې نه ده.

(۱۸)که یې خوښه وي نوحانث فی القسم دي دکفاري په ډول لسومسکینانوته جامې ورکړي هریوه ته دي لږترلږه دومره جامه ورکړي چې په هغې سره دده عام بدن پټ شي ،دامام محمد رحمه الله په نزدلږترلږه مقدارچې په کفاره کې کفایت کوي هغه دومره ده چې په هغې کې لمونزاداء کول جائزوي ،اومیانه جامه دي وي کومه چې لږترلږه تردریومیاشتوپوري داستعمال قابل وي .

(۱۹)که حانث فی القسم په مذکوره بالادریوشیانوڅخه عاجزشوپه یوه یې هم قدرت نه لاره نومتصلې دري روژي دي ونیسي لقوله تعالی﴿فمن لم یجد فصیام ثلاثة ایام﴾(یعنی چالره چې مقدورنه وي نوهغه دي دري ورځې روژه ونیسي)اودابن مسعود رضی الله عنه په قراة کې دمتتابعات قیدهم شته اودادخبرمشهور په څیر دی لهذاددي په وجه سره په کتاب الله زیادت کول جائزدی،ځکه نودادري روژي متصلې نیول لازم دي ،اوکه چاله حانث کیدلوڅخه وړاندي کفاره ورکړه نوجائزنه ده ول چې کفاره دسترجنایت لپاره ده نوترڅوچې حانث نه وي نوجنایت نه شته ځکه قبل الحنث کفاره ورکول جائزنه ده .

(۲۰)وَمَنْ حَلَفَ عَلٰی مَعْصِیَةٍ یَنْبَغِیْ أَنْ یَحْنَثَ وَیُکَفِّرَ (۲۱) وَلَا کَفَّارَةَ عَلٰی کَافِرٍ وَإِنْ حَنِثَ مُسْلِمًا (۲۲) وَمَنْ حَرَّمَ مِلْکَهُ لَمْ یَحْرُمْ وَإِنِ اسْتَبَاحَهُ کَفَّرَ (۲۳) کُلُّ حِلٍّ عَلَیَّ حَرَامٌ فَهُوَ عَلَی الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ وَالْفَتْوٰی عَلٰی أَنَّهُ تَبِیْنُ امْرَأَتُهُ مِنْ غَیْرِ نِیَّةٍ

ترجمه :اوکوم څوک چې قسم وخوري په کومه ګناه باندي نوهغه ته په کارده چې حانث شي اوکفاره اداء کړي ،اوکفاره نشته په کافرکه څه هم دی حانث شي په حالت اسلام کې ،اوکوم کس چې حرام کړي خپل ملک نونه حرامیږي بیاکه ده هغه مباح کړنوکفاره دي اداء کړي ،اوهرحلال پرماحرام دی ویل محمول دي دخورک څښک په شیانواوفتوی پردي ده چې دده ښځه بائنه کیږي بلانیته .

تشریح :(۲۰)که چاپرګناه قسم وخوړی مثلاوي ویل والله زه به لمونځ نه کوم ،یایې وویل والله زه به له خپل پلارسره خبري ونه کړم ،یایې وویل والله زه به نن فلانکی کس قتل کړم ،نومناسب ده بلکه واجب ده چې دی خپل ځان حانث کړي اودخپل قسم کفاره ورکړي اودګناه کارونه کړي لقوله صلی الله علیه وسلم (من حلف علی یمین ورأی غیرها خیرا منها فلیات بالذی هو خیر ثم لیکفر بمینه) (یعنی چاکه په یوشئ قسم وخوړی اوله دي څخه ماسوابل شئ ښه ورته ښکاره شونوکوم شئ چې ښه ورته ښکاره شوی هغه دي وکړي بیادي دخپل قسم کفاره ورکړي).

(۲۱)که کافرقسم وخوړی بیاحانث شونوپرده کفاره نشته خواه که دکفرپه حالت کې حانث شي اوکه له مسلمانیدلوڅخه وروسته حانث شي په هردووصورتونوکې پردي کس کفاره نشته ولې چې کافردقسم اهل نه دی ځکه چې قسم دتعظیم لپاره خوړل کیږي ومع الکفر لایکون معظما ،همدارازکفاره فی ذاته عبادت دی اوکافردعبادت اهل نه دی .

(۲۲)که چاپرخپل ځان خپل مملوک شئ حرام کړمثلاوي ویل طعامی هذا علی حرام (زمادا طعام پرماحرام دی)نونه حرامیږي بلکه اوس که دی هغه طعام دځان لپاره حلال وګرځوي یعنی له هغه څخه څه وخوري نوپرده دقسم کفاره لازمیږي ولی چې حلال شئ پرخپل ځان حرامول قسم دی لکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم

پر خپل ځان شهد حرام کړي وونو الله تعالی تنبيه وفرمايله او هغه يې قسم وګرځاوو قال الله تعالی ﴿يا أيها النبي لم تحرم ما أحل الله لک قد فرض الله لکم تحلة أيمانکم﴾.

(۲۳)که چاوويل چې هرحلال شی پرماحرام دی نودا قسم صرف دخورک ځښک په شيانو واقع کيږي ولی چې همدا متعارف دی لهذا له دي ځخه وروسته که ده څه شی وخوړل ياپې وځښل نو حانث کيږي ،دخورک ځښک له شيانو ځخه علاوه په کوم بل شئ نه حانث کيږي الا داچې ده دخورک ځښک له شيانو ځخه علاوه دنورو شيانو نيت هم کړی وي، ظاهرروايت خودغه دی ،ليکن متأخرين مشائخ فرمايې چې په دي قول سره بغيرله نيت ځخه طلاق بائن واقع کيږي ولی چې دتحرم دلفظ غالب استعمال په طلاق کې دی وعليه الفتوی.

(۲۴)وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا مُطْلَقًا(۲۵)أو معلقا بشرط وَوُجِدَ وَفَى بِهِ(۲۶)وَلَوْ وَصَلَ بِحَلِفِهِ إِنْ شَاءَ اللهُ بَرَّ

ترجمه:او څوک چې نذروکړي مطلق نذر ،يامعلق بالشرط اوشرط موجودشي نو هغه دي پوره کړي ، اوکه يې يوځای کړله خپل قسم سره لفظ دان شاء الله نوله قسم ځخه بری کيږي .

تشريح:(۲۴)که چانذرمطلق (کوم چې معلق بالشرط نه وي)ومنی اومنذورداسې شئ وي چې دده له جنس ځخه واجب وي اومقصودي عبادت وي لکه صوم ،صلوة وغيره نوپه ناذردهغه نذرپوره کول واجب دی لقوله ﷺ (من نذروسمی فعليه الوفاء بماندر)(يعنی چاچې کوم نذرومنی اوهغه يې بيان کړنوپرده دخپل نذرپوره کول لازم دی).

(۲۵)همداشان که چاکوم نذرپه کوم شرط پوري معلق کړياهغه شرط متحقق شونوپرده وفاء بالنذرواجب ده ولی چې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدمعلق بالشرط دغيرمعلق بالشرط په څيردی ،داهم مروی ده چې امام ابوحنيفه رحمه الله له دي ځخه رجوع کړي ده اوويلې يې دي چې که چاوويل ان فعلت كذافعلی حجة(که داسې وکړم نوپرماحج دی)ياپې وويل ان فعلت كذافعلی صوم سنة (که داسې وکړم نوپرمادې يوه کال روژه نيول لازم دي)نوپه دي صورتونو کې کفاره قسم ورکول کافي دي همدادامام محمد رحمه الله قول دی .

(۲۶)که چاپرکوم کارقسم وخوړی اوله قسم سره متصل يې وراندي ياوروسته ان شاء الله وويل نودهغه کارپه کولو سره نه حانث کيږي لقوله ﷺ ﴿من حلف على يمين فقال إن شاء الله فقد استثنى ومن استثنى فلا حنث عليه ولا كفارة﴾(يعنی چاچې په کوم شئ قسم وخوړی بيايې وويل ان شاء الله نوهغه له خپل قسم ځخه بری شو)،اوکه يې متصل ونه ويل بلکه څه وخت وروسته يې وويله نو حانث کيږي ولی چې اوس دارجوع عن اليمين ده اوله يمين ځخه رجوع کول صحيح نه ده .

بَابُ الْيَمِينِ فِي الدُّخُولِ وَالْخُرُوجِ وَالسُّكْنَى وَالْإِتْيَانِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ

دا باب دداخليدو ،اوسيدلو ،وتلو اوراتللو په بيان کې دی

ځرنګه چې ديمين بنيادپرفعل ياترفعل باندي دی په دي وجه مصنف رحمه الله دلته هغه افعال بيانوي په کوموچې قسم خوړل کيږي ليکن ځرنګه چې دخپل کثرت په وجه سره دمحلوف عليه افعالوحصرممکن نه

دی په دي وجه دلته داسې ځو افعال ذکرکوي کوم چې فقهاؤپه خپلو کتابونو کې ذکرکوی ،هغه افعال بیا پردوه قسمه دي ،افعال حسیه وافعال شرعیه ،مصنف رحمه الله دادواړه په علیحده علیحده ابوابو کې ذکرکړي دي ،اول قسم دخول وخروج ځکه چې جسم لره دخورک او څښک په نسبت ډیر لازم دي ځکه یې په پیل کې دهغو تفصیل بیان کړی دی.

ف:دیمین مدار دشوافعو په نزد په حقیقة لغویه باندي دی او دامام مالک رحمه الله په نزد په استعمال قراني دی او دامام احمد رحمه الله په نزد پر نیت باندي دی او مونږ په نزد پرعرف (په دي شرط چې حالف دلفظ دمحتمل نیت کړی وي)نوکه کوم کس داسې ووایې والله لااهدم بیتا،نو دامام شافعی رحمه الله په نزد دغنې دجالې په ماتولو سره حانث کیږي ولی چې په لغت کې دغنې جالې ته بیت ویل کیږي او که څوک ووایې والله لااکل لحما نو دامام مالک رحمه الله په نزد دماهې دغوښې په خوړلو سره هم حانث کیږي ولی چې په قرآن مجید کې دماهې غوښه په لحم سره تعبیر شوي ده قال الله تعالی ﴿لتاكلون منه لحما طريا﴾.(معدن)

(۱) حَلَفَ لَا يَدْخُلُ بَيْتًا لَا يَحْنَثُ بِدُخُولِ الْكَعْبَةِ وَالْمَسْجِدِ وَالْبِيعَةِ وَالْكَنِيسَةِ وَالدِّهْلِيزِ وَالظُّلَّةِ وَالصُّفَّةِ (۲) وفي دار بدخولها خربة (۳) وفي هذه الدَّارِ يَحْنَثُ وَإِنْ بُنِيَتْ دَارًا أُخْرَى بَعْدَ الِانْهِدَامِ

ترجمه:قسم یې وخوړی چې کورته به داخل نه شم نو نه حانث کیږي کعبې او مسجد او کلیسه او ګرجا او دهلیز او سائبان او چوترې ته په داخیدلو سره ،او که یې لفظ دار وو ایو نوله ړنګیدلو په صورت کې نه حانث کیږي ،او دهذه الدار دویلو په صورت کې حانث کیږي که څه هم دوهم جوړکړای شوله ړنګیدلو څخه وروسته

تشریح:(۱)که چا قسم واخیست چې والله زه به بیت ته داخل نه شم بیا دی کعبې یا مسجد یا بیعة (ګرجا د عیسائیانو عبادت ځای)یا کلیسه (دیهودیانو عبادت ځای)ته داخل شونو نه حانث کیږي ولی چې بیت هغه مقام ته ویل کیږي چیرته چې شپه تیریږي حال دا چې مذکوره بالا مقامات دشپې تیرولو لپاره نه دي جوړ شوي لهذا په دوئ کې دخول دخول فی البیت نه شمارل کیږي .همداشان که څوک دهلیز (چوکټ) یا سائبان ،یا چبوترې (دکومې چې څلور دیواله او چت وي)ته داخل شونو نه حانث کیږي ولی چې په دوئ کې هم شپه نه تیریږي دبعضو علماؤ رأیه داده چې چې دهلیز په دي ډول ووچې که دده دروازه بنده کړای شې نو دی دهغه دننه پاتې کیدو او په ده کې وسعت هم وو او پرده چت هم وو نو حانث کیږي ولی چې داسې دهلیز کې خوب کول عادت دی همداشان که چبوتره کې چیرته دشپې تیرولو عرف وو نو په هغې کې په داخیدلو سره هم حانث کیږي لما قلنا.

(۲)قوله وفي دار ای لو حلف لا يدخل دارا فلا يحنث بدخولها حال کونها خربة ،یعنی که چا قسم واخیست چې والله زه به دار ته داخل نه شم ،داریې نکره ذکرکړنو ړنګ کورته په داخیدلو سره نه حانث کیږي ولی چې دار د عربو او عجمو په نزد دهغه صحن او میدان نوم دی چې پر هغه عمارت جوړ شوی وي او تعمیر په ده کې وصف دی او وصف په غائب کې معتبر دی ولی چې غائب په وصف سره پیژندل کیږي او په حاضر او مشار الیه کې وصف لغو دی نو ځکه چې دلته دار نکره دی لهذا په ده کې دوصف تعمیر تحقق معتبر دی بغیر له تعمیر څخه نه حانث کیږي.

(۳)قوله وفي هذه الدار اي لو حلف لايدخل هذه الدار يحنث ،يعني که چاقسم واخيست چې والله زه به دې دارته داخل نه شم، دارېې متعين ذکرکړيادديي عمارت له منهدم کيدلوڅخه وروسته په دې ميدان کې داخل شونو حانث کيږي که څه هم هغه کورله ړنګيدلوڅخه وروسته بياجوړشوی وي ولی چې په متعين کې دوصف اعتبارنشته لهذاله تعمير څخه بغيرپه داخليدلوسره هم حانث کيږي .

(۴)وَإِن جُعِلَتْ بُسْتَانًا أَوْ مَسْجِدًا أَوْ حَمَّامًا أَوْ بَيْتًا لَا (۵) كَهَذَا الْبَيْتِ فَهُدِمَ أَوْ بُنِيَ آخَرَ (۶) وَالْوَاقِفُ عَلَى السَّطْحِ دَاخِلٌ وَفِي طَاقِ الْبَابِ لَا (۷) وَدَوَامُ اللُّبْسِ وَالرُّكُوبِ وَالسُّكْنَى كَالْإِنْشَاءِ (۸) لَا دَوَامُ الدُّخُولِ

ترجمه :او که باغ يا مسجد يا حمام يا کوټه جوړه کړای شوه نو نه حانث کيږي ،لکه دهذا البيت ويلو په صورت کې بيا هغه ړنګه شي يا بله جوړه کړای شي ،او پر بام ولاړ کس داخل شمارل کيږي او ددروازي په محراب کې ولاړ کس داخل نه شمارل کيږي ،او په اغوستلو ،سپريدلو او اوسيدلو کې دوام دانشاء په څيردی ،نه دوام دخول .

تشريح :(۴)که چاقسم واخيست چې والله زه به دې کورته داخل نه شم نو که داکور ړنګ کړای شو او باغ جوړشو يا له ده څخه مسجد يا حمام يا کوټه جوړه شوه نو اوس هغه ته په داخليدلو سره نه حانث کيږي ولی چې اوس هغه ته دارنه ويل کيږي.

(۵)قوله کهذا البيت اي کما لايحنث في حلفه لايدخل هذا البيت ،يعني په مذکوره بالا صورت کې نه حانث کيږي لکه چې نه حانث کيږي په دې ډول قسم خوړلو کې چې والله زه به دې کوټې ته داخل نه شم بيا هغه ړنګه شي نو هغې ته په داخليدلو سره نه حانث کيږي ولی چې له منهدم کيدلو وروسته هغې ته بيت نه ويل کيږي او نه په هغې کې شپه تيريدای شي حال داچې بيت هغه ته ويل کيږي چې په هغه کې شپه تيريږي. همداشان که په دې ځای بله کوټه جوړه شي نو بيا حالف هغې ته داخل شي نو نه حانث کيږي ولی چې له منهدم کيدلوڅخه وروسته هغې ته بيت نه ويل کيږي او په دوهم ځل تعمير سره هغه کوټه نه ده پاتې په کومه کې چې يې دنه داخليدلو قسم خوړلی وو ځکه نه حانث کيږي .

(۶)يعني پر بام ولاړ کس داخل شمارل کيږي ولی چې بام له دار څخه دی نو که چاقسم واخيست چې والله زه به دې دارته داخل نه شم بيا له باهر څخه دهغه پر بام وختی نو حانث کيږي ولی چې بام له دار څخه دی ،البته له مذکوره قسم خوړلوڅخه وروسته که حالف ددروازي په طاق يعني محراب کې ودريد و په دې ډول چې که دروازه بنده کړای شي نو دی باهر پاتې کيږي نو نه حانث کيږي ولی چې دروازه د دار او مافيها د حفاظت لپاره ده لهذا له دروازي څخه باهر چې کوم ځای دی هغه له دار څخه نه دی .

(۷)دوام لبس ،رکوب او سکنی لره دانشاء حکم دی يعني که چاد کومې معينې جامې په باره کې وويل والله زه به دا په تن نه کړم ،او حال داچې ده هغه في الحال اغوستې ده بيا لږ وخت په همدې حالت پاتې شونو داله سره اغوستل شمارل کيږي لهذا حانث کيږي .همداشان په سورلی باندې سوردی او وې ويل والله زه به په دې سور نه شم بيا څه وخت په همدې حالت پاتې شونو داله سره نوې سورتيا شمارل کيږي لهذا حانث کيږي .همداشان که چا وويل والله زه به په دې کې ونه اوسيږم او حال داچې دی په دې کور کې ناست دی نو په

مزيدپاتې كيدلوسره حانث كيږي ولى چې په مذكوره افعالوكې دوام دتجددالامثال په ذريعه سره دى لهٰذادوئ دوام لره ابتداء اوانشاء حكم دى.

(۸)قوله لادوام الدخول اى ليس دوام الدخول كالانشاء ،يعنى دوام دخول دانشاء دخول په شان نه دى نوكه چاقسم واخيست چې والله زه به دي كورته داخل نه شم اوحال داچې دى په دي كوركې دى نوپه مزيدپاتې كيدلوسره نه حانث كيږي ترڅوچې راووځي اوبيرته داخل شي ولى چې دوام دخول انشاء الدخول نه دى ځكه چې دخول خوانفصال من الخارج الى الداخل دى اوپه مزيدپاتې كيدلوكې دامعنى نشته لهٰذانه حانث كيږي.

(۹)لَايَسْكُنُ هٰذِهِ الدَّارَ اَوِ الْبَيْتَ اَوِ الْمَحَلَّةَ فَخَرَجَ وَبَقِيَ مَتَاعُهُ وَاَهْلُهُ حَنِثَ (۱۰)بِخِلَافِ الْمِصْرِ (۱۱)لَايَخْرُجُ فَاُخْرِجَ مَحْمُولًا بِاَمْرِهِ حَنِثَ وَبِرِضَاهُ لَابِاَمْرِهِ اَوْمُكْرَهًا لَا (۱۲)كَلَايَخْرُجُ اِلَّا اِلٰى جَنَازَةٍ فَخَرَجَ اِلَيْهَا ثُمَّ اَتٰى حَاجَةً

ترجمه:نه به اوسيږي په دي كورياكوټه يامحله كې بيا په خپله ووتى او دده اسباب او اهل په هغه كې پاتې شول نوحانث كيږي ،په خلاف دښار ،نه به اووځي بيا راويستل شوپه رااوچتولوسره دده په حكم نوحانث كيږي اودده په رضاسره نه دده په امرسره ياپه زوره په راويستل شونونه حانث كيږي ،لكه چې نه به اووځي مگردجنازي لپاره نوووتى دهغې لپاره بيا كوم دكوم بل ضرورت لورته ولاړى.

تشريح :(۹)كه چاقسم واخيست چې والله زه په دي كوريادي كوټه يادي محله كې نه اوسيږم ،بياخپله له محلي ولاړى اوبال بچيان اوسامان يې په مذكوره ځايونوكې پريښودنوحانث كيږي ولى چې په كوم كورياكوټه يامحله كې بال بچيان اوسامان وي په عرف كې دي كس ته په هغه كور،كوټه اومحله كې اوسيدونكى ويل كيږي.

(۱۰)اوكه يې په دي ډول قسم واخيست چې والله زه په دي ښاركې نه اوسيږم بياپه خپله له هغه ځخه ووتى مگربال بچيان اوسامان يې هلته پريښودنونه حانث كيږي ولى چې له ښارڅخه په خپله له وتلووروسته ده ته دهغه ښاراوسيدونكى نه ويل كيږي ،دبعضوعلماؤرأيه داده چې دنن صباپه عرف كې ځرنگه چې بال بچيان اوسامان په كوم ښاركې وي هغه كس دهغه ښاراوسيدونكى شمارل كيږي لهٰذاحانث كيږي.

(۱۱)كه چاداقسم واخيست چې والله زه له دي كورڅخه نه وځم بيادده په حكم سره بل چادى دده له كورڅخه پورته كړاو باهريې ويستى نوحانث كيږي ولى چې دمأمورفعل دآمرطرف ته منسوب كيږي نوگويادى خپله له ښارڅخه ووتى اوكه خلگودى په خپله ويستى ده خلگوته دايستلوامرنه ووكړى هودى دبه ايستلوراضى وونونه حانث كيږي لكه چې څوك دى په زورسره پورته كړي اوباهريې وباسي نونه حانث كيږي ولى چې په دي دواړوصورتونوكې دحالف له طرف څخه دامر دنه كيدلوپه وجه سره دخروج نسبت دحالف طرف ته نه كيږي لهٰذاحانث كيږي هم نه.

(۱۲)قوله كلايخرج الاالى جنازة الخ اى كمالايحنث لوحلف لايخرج من داره الاالخ ،يعنى په مذكوره بالاصورت كې حالف نه حانث كيږي لكه چې څوك داسې قسم وخورى چې والله زه به له كورڅخه صرف دجنازي لپاره وځم دكوم بل كارلپاره نه وځم بيادى دكومې جنازي لپاره ووتى اوله دي سره يې خپل كوم بل كارهم وكړنوداكس

نه حانث کيږي ولې چې داخروج دبل کارلپاره نه دی بلکه دجنازي لپاره دی کوم چې له قسم څخه مستثنی دی یادبل کارلپاره تلل خروج نه ده بلکه هغه کارته وصول دی لهذا نه حانث کيږي .

(۱۳)) لايخرج او لايذهب الى مكة فخرج يريدها ثم رجع حنث (۱۴) وفي لاياتيها لا (۱۵) لياتينه فلم ياته حتى مات حنث في آخر حياته (۱۶) لياتينه ان استطاع فهو على استطاعة الصحة وان نوى القدرة دين (۱۷) لاتخرج الا باذني شرط لكل خروج اذن (۱۸) بخلاف الا ان وحتى

ترجمه :نه به وځي يانه به ځي دمکې طرف ته يا ووتی دمکې مکرمې په اراده سره بيابيرته راغی نو حانث کيږي، او دلاياتيها دويلوپه صورت کې نه حانث کيږي ،خامخابه راځي هغه ته ياهغه ته رانه غی ترڅو چې وفات شونو حانث کيږي دخپل ژوندپه اخيرکې ،خامخابه راځي هغه ته که کيدای شول نوله دي څخه دصحت استطاعت مراددی اوکه يې دقدرت نيت وکړنو ديانة به يې تصديق کيږي ،مه وځه مګرزماپه اجازه سره نوشرط دی هرځل وتلولره اجازت ،په خلاف دالاان او حتی ان ويلوکې .

تشريح :(۱۳)که چاپه دي ډول قسم واخيست چې والله زه به دمکې مکرمې طرف ته ونه وځم يامکې مکرمې ته به ولاړنه شم.بيادی دمکې په اراده سره روان شومګرله لاري څخه بيرته راوګرځيدنو حانث شوولې چې له کورڅخه خودمکې مکرمې په ارده سره وتلی دی اوقسم يې هم پرهمدي خوړلی وولهذادقسم دماتولوپه وجه سره حانث کيږي .

(۱۴)قوله وفي لاياتيها لااي لوحلف لاياتيها مكة لايحنث بالخروج ،يعنی که چاپه دي ډول قسم واخيست چې والله زه به مکې مکرمې ته نه ځم بيادمکې په ارده سره روان شومګرله لاري څخه بيرته راوګرځيدنونه حانث کيږي ولې چې په دي صورت کې ده لفظ دلاياتيها استعمال کړی دی او اتيان له وصول څخه عبارت دی او وصول نه دی متحقق شوی لهذانه حانث کيږي.

(۱۵)اوکه قسم واخيست چې والله زه به ضرورتاته درځم بيانه ورغی ترڅو چې مړشونو حالف دخپل ژوندپه اخيري جزء کې حانث کيږي ولې چې دژوندله دي جزء څخه وړاندي هروخت اميدشته چې شايددی خپل قسم پوره کړي اوهغه ته ورشي اوس څرنګه چې اميدپاتې نه شولهذاحانث کيږي.

(۱۶)که چاقسم واخيست چې والله زه به ضرورتاته درځم په دي شرط که زمااستطاعت وو نوله استطاعت څخه صحت اوسلامت آلات او اسباب مع عدم المانع مراددی يعنی که حالف تندرست وو اودراتلواسباب مهياووکوم حسی مانع نه وو نو حانث کيږي ولې چې استطاعت متعارف همدادی . قدرت حقيقيه کوم چې مقارن للفعل وي (يعنی تقديرالهی)مرادنه دی ولې چې داغيرمتعارف دی . اوکه ده دقدرت حقيقيه نيت وکړنوديانة به دده تصديق کيږي يعنی فيمابينه وبين الله نه حانث کيږي ولې چې ده دخپل کلام دحقيقي معنی نيت کړی دی مګرقضاء به دده تصديق نه کيږي يعنی حاکم به دده دنيت اعتبارنه کوي ولې چې له عرف څخه خلاف دی .

(۱۷)که چاقسم وکړچې والله زمابنځه به زماله اجازت څخه بغيرنه وځي نودعدم حنث لپاره هرځل دوتلواجازت ورکول ضروري دی ولې چې الاباذنه کې مخصوص خروج مستثنی دی باقي ټول اقسام دخروج په ممنوع والی کې داخل دي. نوکه ده يوځل اجازت ورکړهغه ووته او واپس راغله اودوهم ځل دده له اجازت څخه بغيروو تله نو دا حالف حانث کيږي .

(۱۸)قوله وبخلاف الاان آذن وحتى اى بخلاف مالوقال لاتخرجى الاان اذن لک اوحتى آذن لک فانه لايشترط الاذن الامرة ،يعني که خاوند وويل الاان اذن لک ياحتى آذن لک (مګرداچې زه تاته اجازت درکړم ياترڅوچې زه تاته اجازت درکړم) بيايې يوځل اجازت ورکړهغه وتله بيابيرته واپس راغله اوس له دې څخه وروسته که هغه بغيرله اجازت څخه ووتله نوحالف نه حانث کيږي ولې چې حتى دغايه لپاره دى چې اجازت ورکول ددې قسم انتهاء ده لهذاپه يوځل اجازت ورکولوسره قسم انتهاء ته رسيږي په دې وجه له دې څخه وروسته په بلااجازت سره په وتلونه حانث کيږي اوان آذن لک پرحتى محمول دى.

(۱۹)وَلَوْ أَرَادَتِ الْخُرُوجَ فَقَالَ إِنْ خَرَجْتِ أَوْ ضَرَبَ الْعَبْدَ فَقَالَ إِنْ ضَرَبْتَ تَقَيَّدَ بِهِ (۲۰) كَاجْلِسْ فَتَغَدَّ عِنْدِي فَقَالَ إِنْ تَغَدَّيْتُ (۲۱) وَمَرْكَبُ عَبْدِهِ مَرْكَبُهُ إِنْ نَوَى وَلَا دَيْنَ عَلَيْهِ

ترجمه: اوکه ښځې دوتلواجازه وکړه خاوندوويل که ته ووتلې يادغلام دوهلواراده وکړه نوده ووېل که تاووهې نوداپه دغه وتلواووهلوپورې مقيدکيږي ،لکه داقول چې کښينه له ماسره ناشته وکړه هغه ووېل که ماناشته وکړه اودغلام سورلى دده سورلى ده که دهغه نيت وکړي اوپرغلام قرض نه وي.

تشريح: (۱۹)که يوې ښځې له کورڅخه دوتلواراده وکړه چې دې خاوندوويل ان خرجت فانت طالق (که ته ووتلې نوته طلاقه يې) ياچادغلام دوهلواراده وکړه اوبل ووېل که تازماغلام وواهه نوهغه ازاددى نوپه دې دوو صورتونوکې داقسم يعني طلاق اوازادي په همدې وتلوياوهلوپورې مقيدکيږي حتى که ښځه فى الحال کښينستله وروسته ووتله يادې کس غلام فى الحال ونه واهه وروسته يې وواهه نوداطلاق ياازادي نه واقع کيږي ولې چې عرفاًدحالف مراددهمدې ځل فعل دى اوپه قسمونوکې عرف معتبروي ،په دې ډول قسم ته يمين فوروېل کيږي.

(۲۰)يعني مذکوره بالاقسم يمين فوردى په همدې وخت پورې خاص دى لکه چې څوک چاته ووايې ،کښينه له ماسره ناشته وخوره هغه په ځواب کې ووايې که ماخورک وکړنوزماغلام دې ازاددى نودې حلف تعلق له همدې خورک سره دى له دې څخه علاوه که هغه خورک وکړي نونه حانث کيږي ولې چې دحالف قول دداعى ځواب دى نوالمذکورفى السوال کالمعادفى الجواب وي ګوياحالف ووېل ان تغديت معک هذه المرة فعبدي حر(که ماله تاسره په دې ځل خورک وکړنوزماغلام ازاددى).

(۲۱)اوپه حانث والى کې دغلام سورلى دمالک دسورلى په حکم کې ده مګرشرط دادى چې حالف دغلام دسورلى نيت وکړي اوغلام مقروض نه وي مثلاًحالف ووايې که زه دفلان په اس سورشوم نوزماغلام ازددى اونيت يې داوکړچې که دفلان اس وي يادفلان دغلام وي نواوس که دى دفلان يادفلان دغلام په اس سورشونوحانث کيږي يعني دده غلام ازاديږي ولې چې دحانث کيدلومداريه نيت سره دى اوحالف دغلام دسورلى نيت کړى دى ،اوکه حالف دغلام دسورلى نيت نه وي کړى نوبيادغلام په سورلى په سوريدلوسره نه حانث کيږي ولې چې دغلام سورلى که څه هم دمولى سورلى ده مګرپه عرف کې هغه دغلام سورلى ګڼل کيږي ،اوشرط داهم دى چې په دې غلام به دومره قرض نه وي کوم چې دده قيمت لره مستغرق وي ولې چې په داسې صورت کې داغلام دمولى ملک نه دى لهذاپه دې صورت کې که حالف ددې غلام په سورلى سورشونونه حانث کيږي.

بَابُ الْيَمِينِ فِي الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَاللُّبْسِ وَالْكَلَامِ

داباب دخورک څښک او اغوستلو او کلام کولو د قسم کولو په بيان کې دی

ځنګه چې د يمين بنياد په فعل يا ترک فعل باندې دی بيا له افعالو څخه دخول ،خروج وغيره ځنګه چې جسم ته د خورک څښک په نسبت ډېر لازم دي په دې وجه يې په پيل کې د دوئ تفصيل بيان کړاوس له دې ځايه څخه په خورک څښک وغيره باندې د قسم خوړلو تفصيل بيانوي .

(١)لاياكل من هذه النخلة حنث بثمرها (٢) ولو عين البسر والرطب واللبن لايحنث برطبه وتمره وشيرازه (٣) بخلاف هذا الصبي وهذا الشاب وهذا الحمل (٤) لاياكل بسرا فاكل رطبا لم يحنث (٥) وفي لاياكل بسرا او رطبا او لاياكل رطبا ولا بسرا حنث بالمذنب

ترجمه :خورک به ونه کړي د خرماله دې درختې څخه نو حانث کيږي دهغې په ميوه سره ،او که يې معين کړاومه او پخه خرما او شيدې نو نه حانث کيږي دهغې په پخه وچه او مستو سره ،په خلاف د دې ماشوم دې ځوان او دې حمل ،نه به خوري اومه خرما بيا يې پخه وخوړله نو نه حانث کيږي ،او په دې وينا سره چې نه به خوري پخه يا اومه يا نه پخه نه اومه نو په نيم خامه خوړلو سره حانث کيږي .

تشريح :(١)که چا قسم واخيست چې والله زه به د دې خرماله درختې څخه خورک ونه کړم نو د خرما د درختې په خوړلو سره نه حانث کيږي بلکه دهغې دميوې په خوړلو سره حانث کيږي ولی چې د ده ديمين نسبت درختې ته کړی دی او درخته ماکول شئ نه دی لهذا دهغې ميوه به مراد وي ولی چې درخته دميوې لپاره سبب ده لهذا درختې په ذکر کولو سره استعارة ميوه مراد ول صحيح دي .

(٢)که چا قسم واخيست چې والله زه به له دې بسر(اومه خرما)څخه خورک ونه کړم يعنی دبسر په متعين کولو سره يې وويل والله لاآكل هذا البسر وبيا يې له رطب(تازه پخ شوي خرما)والی څخه وروسته وخوړه ،يا يې درطب خرما په متعين کولو سره وويل والله زه به دا رطبه خرما ونه خورم بيا يې تمر(وچه خرما)کيدلو څخه وروسته وخوړه نو نه حانث کيږي ،يا يې شيدې متعين کړي وي وويل والله زه به دا شيدې ونه څښم نو له مستو کيدلو څخه وروسته په څښلو سره نه حانث کيږي ولی چې اوم والی يا تازه پخ والی يا شيدې والی داسې صفات دي کوم چې کله داعی لليمين وي لهذا قسم به دهمدې صفت تر بقاء پورې پاتې وئ له دې څخه وروسته ختميږي .

ف :قاعده داده چې يمين که په کوم معين شئ په کوم خاص وصف سره وونوکتل کيږي به چې هغه وصف ديمين طرف ته داعی دی او که نه دی ،که داعی وونو دهغه وصف اعتبار به کيږي ،او که داعی نه وو نوصرف دنکرې په صورت کې به دوصف اعتبار کيږي د معرفې په صورت کې نه کيږي.

(٣)که چا قسم واخيست چې والله زه به له دې ماشوم سره خبرې ونه کړم يا والله زه به له دې ځوان سره خبرې ونه کړم بيا له سپين ږيروالی څخه وروسته حالف له ده سره خبرې وکړي يا يې وويل والله زه به د دې حمل غوښه ونه خورم بيا له هغه څخه پسه جوړ شو اوس حالف دهغه غوښه وخوړه نو په دې دريو سره صورتونو کې حانث کيږي ولی چې دماشوم والی او ځوان والی وصف که څه هم داعی الی اليمين دی مګر له دوئ سره خبرې نه کول شرعاً ممنوع دي او شرعاً ممنوع دعادة ممنوع په څير دي لهذا دې صفت د داعی الی اليمين والی اعتبار نه دی شوی ځکه له سپين ږيري والی څخه وروسته دحالف له ده سره په خبرو کولو حالف

حانث کیږي ،او د حمل له غوښې څخه منع کیدل د هغه د ذات په وجه سره وو د هغه د صفت حمل په وجه سره نه وو ولې چې دا صفت داعي الی الیمین نه دی.

(۴) که چا قسم واخیست چې والله زه به بسر (بسریې نکره ذکر کړ) ونه خورم بیا یې رطب خرما وخوړه نو نه حانث کیږي ولې چې رطب بسر نه دی لهذا محلوف علیه شئ یې نه دی خوړلی ځکه نه حانث کیږي.

(۵) که چا قسم واخیست چې والله زه به رطب (تازه پخ شوي خرما) یا بسر ونه خورم یا یې په دې ډول سره وویل چې نه به رطب خورم او نه به بسر خورم بیا ده بسر مذنب (هغه خرما چې د لکی له طرف څخه پخ شوي وي او نوره کچه وي) وخوړه نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد حانث کیږي ولې چې د بسر مذنب په خوړلو سره دا کس د بسر او رطب دواړو خوړونکی شمارل کیږي ولې چې د دواړو خوړل مقصود دي لهذا حانث کیږي.

(۶) وَلَا يَحْنَثُ بِشِرَاءِ كِبَاسَةِ بُسْرٍ فِيهَا رُطَبٌ فِي لَا يَشْتَرِي رُطَبًا (۷) وَبِسَمَكٍ فِي لَا يَأْكُلُ لَحْمًا (۸) وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَالْإِنْسَانِ وَالْكَبِدُ وَالْكَرِشُ لَحْمٌ (۹) وَبِشَحْمِ الظَّهْرِ فِي شَحْمًا (۱۰) وَبِأَلْيَةٍ فِي لَحْمًا أَوْ شَحْمًا (۱۱) وَبِالْخُبْزِ فِي هَذَا الْبُرِّ

ترجمه: او نه حانث کیږي د کچه خرما وو د وشکې په اخیستلو سره په کوم کې چې څه پخې خرماوي هم وي په دې وینا کې چې تازه پخ شوي خرماوي به نه اخلم، او د ماهې په خوړلو سره په دې وینا کې چې غوښه به نه خورم، او د خنزیر او انسان غوښه او ینه او او جړی غوښه ده، او د شا په وازګه سره په دې وینا کې چې وازګه به نه خورم، او د پسه په لم سره د غوښې یا وازګې په ویلو سره، او په ډوډۍ سره په دې وینا کې چې دا غنم به نه خورم.

تشریح: (۶) که چا په دې ډول قسم واخیست چې زه به پخې خرماوي وانه خلم بیا ده داموخرما وو داسې وشکې واخیستې چې په هغه کې څه پخې خرماوي هم وي نو دا کس نه حانث کیږي ولې چې شراء ټولوته شامله ده او اکثر او مې دي اقل پخې دي وللاکثر حکم الکل.

(۷) قوله وبسمک فی لا یاکل لحما ای لایحنث باکل لحم السمک الخ ،یعنی که چا قسم واخیست چې والله زه به غوښه ونه خورم بیا د ماهی غوښه وخوړه نو استحسانا نه حانث کیږي ولې چې په عرف او عادت کې د لحم لفظ ماهی ته شامل نه دی او أیمان پر عرف مبني وي.

ف: د قیاس تقاضا خو داده چې حانث شي همدا د امام ابویوسف او ائمه ثلاثه قول دی ولې چې په قرآن مجید کې د ماهي غوښې ته لحم ویل شوي دي قال الله تعالی ﴿وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا﴾، احناف ځواب ورکوي چې د ماهي غوښې ته مجازا لحم ویل شوي دي ولې چې لحم له وینې څخه پیدا کیږي او په ماهي کې د مائی المولد کیدلو په وجه سره وینه نشته.

(۸) د خنزیر او انسان غوښه او ینه او لرې د غوښې په حکم کې ده لهذا که چا په داسې قسم واخیست چې والله زه به غوښه نه خورم بیا هغه د خنزیر یا انسان غوښه وخوړه یا یې ینه یا لرې وخوړې نو حانث کیږي. ولې چې په عرف کې دی غوښه خوړونکی ګڼل کیږي.

ف: ... رداد کوفې دا وسیدونکو عرف دی زموږ په عرف کې هغه ته غوښه خوړونکی نه ویل کیږي ځکه نه حانث کیږي وعلیه الفتوی لمافی الدرالمختار:ولحم الانسان والکبد والکرش ......والخنزیرلحم هذافی عرف اهل الکوفة امافی

عرفاًلاكمافي البحر,قال العلامة ابن عابدين :لان أكله ليس بمتعارف ومبنى الايمان على العرف قال وهو الصحيح وفي الكافي وعليه الفتوى (الدر المختار مع الشامية:۳/۹۹)

(۹)قوله وبشحم الظهر في شحمااى لايحنث باكل شحم الظهر ،يعنى كه چاپه دي ډول قسم واخيست چې والله زه به وازګه ونه خورم بيايې دشاوازګه وخوړه نوداامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدنه حانث کيږي ولې چې دوازګې اطلاق په هغه وزاګې کيږي کومه چې په نس کې وي اودشاوازګې ته په عرف کې وازګه نه ويل کيږي بلکه دالحم سمين دي دصاحبينوپه نزدحانث کيږي ولې چې دشاوازګه په حقيقت کې وازګه ده ځکه چې په اوږه اينبودلوسره داهم دنوري وازګې په شان ويلې کيږي .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد:قال ابن الهمام انه صحح غيره واحدقول الامام ابى حنيفه (هامش الهداية :۲/۳٦۷)وقال العلامة ابن عابدين قال في البحرقال القاضي الاسبيجابي ان اريدبشحم الظهرشحم الكلية فقولهماالظهروان اريدبه شحم اللحم فقوله ظهر (ردالمحتار:۳/۱۰۰)

(۱۰)قوله وبالية في لحم اوشحمااى لايحنث باكل الية في حلفه لاياكل لحماولاياكل شحما،يعنى كه چاداسې قسم واخيست والله زه غوښه ياچربي ونه خورم بيا ده دپسه لم وخوړى نونه حانث کيږي ولې چې لم له غوښې اوچربي څخه جلابله نوعه ده ځکه نولم خورنکى ته چربى ياغوښه خورونکى نه ويل کيږي .

(۱۱)قوله وبالخبزفي هذاالبراى لايحنث باكل الخبزفي حلفه لاياكل من هذاالبر،يعنى كه چاقسم واخيست چې والله زه به له دي غنمو څخه خورک ونه کړم بيايې دهغوډوډى وخوړه نونه حانث کيږي داامام ابوحنيفه رحمه الله مسلک دى ولې چې غنمولره حقيقت مستعمله شته ځکه چې غنم په نينې کولواوپه چيچلوسره خوړل کيږي اودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدحقيقة مستعمله له مجازمتعارف څخه اولى دى . دصاحبينوپه نزدحانث کيږي ولې چې دصاحبينوپه نزدمجازمتعارف ترحقيقة مستعمله اولى دى .

ف:دامام صاحب قول راجح دى لمافي الدر المختار:(ولا)يحنث (بخبزواودقيق اوسويق في)حلفه لاياكل (هذاالبرالافي القضم من عينها)قال العلامة ابن عابدين فان لفظ اكل الحنطة يستعمل حقيقة في أكل عينهافان الناس يقلونهاوياكلون فهواولى من المجازالمتعارف (الدر المختار مع الشامية:۳/۱۰۰)

(۱۲)وَفِي هٰذَا الدَّقِيقِ حَنِثَ بِخُبْزِهِ وَلَا بِسَفِّهِ(۱۳)وَالْخُبْزُ مَا اعْتَادَهُ بَلَدُهُ(۱۴)وَالشِّوَاءُ وَالطَّبِيخُ عَلَى اللَّحْمِ(۱۵)وَالرَّأْسُ مَا يُبَاعُ فِي مِصْرِهِ(۱٦)وَالْفَاكِهَةُ التُّفَّاحُ وَالْبِطِّيخُ وَالْمِشْمِشُ لَا الْعِنَبُ وَالرُّمَّانُ وَالرُّطَبُ وَالْقِثَّاءُ وَالْخِيَارُ

ترجمه :اوپه دي وينا کې چې دااوړه به نه خورم حانث کيږي دهغوپه ډوډى سره نه په وچواوړوخولې ته اچولوسره، اوډوډي هغه ده چې دهغې عادي وي اهل ښار،اوکباب شوي اوپخ شوي په غوښه محمول دي اوله سرڅخه هغه مراددى کوم چې خرڅيږي په دي ښارکې ،اوميوه سيب اوهندوانه اوزردآلو ده نه انګوراواناراوتازه خرماوي اواوچمبرخيال اوبادرنګ.

تشريح :(۱۲)قوله وفي هذاالدقيق حنث بخبزه اى لوحلف لاياكل هذاالدقيق حنث باكل خبزه ،يعنى كه چاقسم واخيست چې والله زه به له دي اوړه څخه خورک ونه کړم بيايې دهغواوړوډوډى وخوړه نوحانث کيږي ولې چې بعينه اوړه خوړل متعارف نه دي لهذاقسم به هغه شئ ته راجع کيږي کوم چې له اوړوڅخه جوړيږي ،اوکه ده وچ اوړه خولې ته واچول نونه حانث کيږي ولې چې له اوړوڅخه مجازاډوډي مرادول متعين شو لهذامحلوف عليه ډوډى ده نه اوړو.

(۱۳)له ډوډۍ څخه مراد د ښار معتاده ډوډۍ ده يعنی که چاقسم واخيست چې والله زه ډوډۍ نه خورم ،نو د حالف د ښار والا چې عادتاً کومه د ډوډۍ په ډول خوري پر هغه د اقسم واقع دی ولی چې په باب د قسم کې عرف معتبر دی نو که مذکوره بالا قسم اخيستونکې په غراق کې د وريجو ډوډۍ وخوره نو نه حانث کيږي ولی چې په عراق کې د وريجو د ډوډۍ د خوړلو عادت نشته .

(۱۴)له کباب شوي اوپخ شوي څخه د قسم اخيستلو په صورت کې د اقسم په غوښه واقع کيږي يعنی که چاقسم واخيست چې والله زه به کباب شوی اوپخ شوی ونه خورم نو د اقسم صرف په غوښه واقع کيږي په بانجنو گاځرو وغيره باندي نه واقع کيږي ولی چې له مطلق کباب شوي څخه په عرف کې کباب شوي غوښه مراديږي همدا شان که چاقسم واخيست چې والله زه به طبيخ (پخ شوی)ونه خورم نو د اقسم استحساناً پر غوښه واقع کيږي اعتبارا للعرف .اوکه چاقسم واخيست چې والله زه به سرونه خورم نو د چوغکې ،يا ملخ وغيره په سرونو باندي د اقسم نه واقع کيږي بلکه د اقسم په هغه سر و اقع کيږي کوم چې په تنورونو کې پخيږي اوپه ښار کې خرڅيږي ولی چې همدا متعارف دي .

(۱۵)اوله ميوې څخه قسم په سيب ،هندوانه اوزرد آلو واقع کيږي يعنی که چاپه دې ډول سره قسم واخيست چې والله زه به ميوه ونه خورم نو په د قسم سره په د سيب اوهند اونې اوخوبانې وغيره په خوړلو حانث کيږي ولی چې فاکهه هغه ده کومه چې له خورک څخه وروسته د تلذذ لپاره خوړل کيږي اودامعنی په دې مذکوره شيانو کې متحققه ده البته د انگورو ، انارو ،پخو خرماو ،چمبر خيال اوبادرنگ وغيره په خوړلو سره نه حانث کيږي ولی چې په دې شيانو کې د فاکهه معنی نشته ځکه چې انگور ، انار او خرماوي د غذاء يا دواء په ډول استعماليږي په دې وجه د تفکه په معنی کې قصور پيدا شو او بادرنگ وغيره ساوياني په ترکاريو کې داخل دي لهذا له ميوې څخه د قسم اخيستلو په صورت کې په دې شيانو سره نه حانث کيږي.

ف:د صاحبينو او ائمه ثلاثه په نزد انگور ،انار او خرماوي په فاکهه کې داخل دي ولی چې په دې شيانو کې تفکه معنی موجوده ده ،ويل کيږي چې دا اختلاف د زمانې اختلاف دی د دليل اوبرهان اختلاف نه دی ، نو اهل عرف چې کوم شئ په ميوه کې شمارل کړي هغه په ميوه کې داخل دی اوکوم چې په ميوه کې شمار نه کړي هغه له ميوې څخه خارج دی .

(١٦)وَالْإِدَامُ مَا يُصْطَبَغُ بِهِ كَالْخَلِّ وَالْمِلْحِ وَالزَّيْتِ لَا اللَّحْمُ وَالْبِيضُ وَالْجُبْنُ(١٧)وَالْغَدَاءُ الْأَكْلُ مِنَ الْفَجْرِ إِلَى الظُّهْرِ وَالْعَشَاءُ مِنْهُ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ (١٨)وَالسُّحُورُ مِنْهُ إِلَى الْفَجْرِ

ترجمه :اوسالن هغه دی په کوم کې چې ډوډۍ لنديږي لکه سرکه اومالگه اود زيتون تيل نه غوښه اوهگۍ اوپنير ،اوغداء له سهار څخه ترماپښين پوري خورک دی اوعشاء ترنصف شپې پوري خورک دی ،اوسحور له نصف شپې څخه ترطلوع فجر پوري خورک دی .

تشريح:(۱۶)که چاپه دې ډول قسم واخيست چې والله زه به سالن ونه خورم نوله دې څخه هغه مراد دی په کوم چې ډوډۍ په لنده ولو اوگډولو سره خوړل کيږي مثلاً سرکه ،مالگه اود زيتون تيل وغيره نو د مذکوره قسم اخيستلو په صورت کې د دې شيانو په خوړلو سره حانث کيږي ولی چې ادام هغه شئ دی کوم چې په تبعيت سره خوړل کيږي او تبعيت په اختلاط کې دی يا دا چې تنهاء به نه خوړل کيږي . اود کباب شوي غوښه

ځكې اوپنيرپه خوړلوسره نه حانث كيږي ولې چې داشيان ادام نه دي ځكه چې په دوئ سره ډوډۍ نه لنډيږي اوپه تبعيت سره نه خوړل كيږي بلكه په مستقل ډول سره خوړل كيږي ،په مالګه كه څه هم ډوډۍ نه لنډيږي مګرپه خوله كې په اچولوسره ويلې كيږي اومخلوطيږي لهذامالګې ته ادام ويل صحيح دي .

(۱۷)كه چاقسم واخيست چې والله زه به غداء نه خورم نوله غداء څخه مرادهغه خورک دی كوم چې له طلوع فجرڅخه بياترماپښين پورې په دامنځ كې خوړل كيږي لهذاپه دي مابين كې كه حالف خورک وكړنوحانث كيږي ،اوكه يې وويل والله زه به عشاء نه وخوزم نوله عشاء څخه مرادهغه خورک دی كوم چې له ماپښين څخه بياترنصف شپې پورې په دامنځ كې خوړل كيږي لهذاكه حالف په دي مابين كې خورک وكړنوحانث كيږي .

(۱۸)اوكه يې وويل والله زه به سحری ونه خورم نوله سحری څخه مرادهغه خورک دی كوم چې له نيمې شپې څخه ترطلوع فجرپورې په دامنځ كې خوړل كيږي ،سحورله سحرڅخه دي په قريب سحرېې اطلاق كيږي كوم چې له نصف الليل څخه دی لهذاكه حالف له طلوع فجرڅخه نيولې بياترطلوع فجر پورې خورک وكړنوحانث كيږي .

(۱۹)إن لبست او أكلت او شربت ونوى معيّنًا لم يصدّق أصلًا (۲۰) ولو زاد ثوبًا او طعامًا او شرابًا دين (۲۱) لايشرب من دجلة على الكرع (۲۲) بخلاف من ماء دجلة

ترجمه :كه زه واغوندم ياوخورم ياوڅښم اودكوم خاص شئ نيت يې وكړنوبالكل دده تصديق نه كيږي ، اوكه يې اضافه كړثوب ياطعام ياشراب نوديانة تصديق كيږي ،له دجله څخه به ونه څښي نوداپه خوله لګولوسره په څښلو محمول دی ،په خلاف ددي ويناچې ددجلې اوبه به نه څښم .

تشريح :(۱۹)كه چاداسې وويل چې كه زه واغوندم ياوخورم ياوڅښم نوزماغلام ازاددی اوس دي وايې چې مادفلان خاص شئ داغوستلوياخوړلوياڅښلونيت كړی دی نودده دنيت اعتباربه نه كيږي نه ديانةاونه حكما،ولې چې نيت په ملفوظ كې صحيح كيږي حال داچې دلته ثوب وغيره صراحة ملفوظ نه دي اقتضاء به يې مقدربولواوپه مقتضي كې عموم نه وي لهذادتخصيص نيت لغودی .

(۲۰)هوكه ده دثوب وغيره اضافه وكړه مثلاداسې يې وويل چې ان لبست ثوبااواكلت طعامااوشربت شرابافعبدی حر)(يعنې كه ماجامه واغوستله يامې خورک وخوړی يامې كوم دڅښک شئ وڅښی نوزماغلام ازاددی)ددې قول په وخت كې ده دكوم خاص شئ نيت وكړنوديانة به دده تصديق كيږي ولې چې په محل شرط كې نكره عامه وي لكه نكره په تحت النفی كې ،لهذادتخصيص نيت صحيح دی اوحكما اوس هم دده اعتبارنه كيږي ولې چې دده دانيت خلاف ظاهردی .

(۲۱)كه چاقسم واخيست چې والله زه به له دجله (دعراق مشهوردرياب دی)څخه ونه څښم ، نوله دي څخه په خوله اينودلوسره څښل مراددی نوكه ده دخولې په اينودلوسره وڅښلې نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدحانث كيږي ولې چې په خوله اينودلوسره څښل حقيقت مستعمله دی اودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزديمين پرحقيقت مستعمله محمول وي اوكه په لوښي كې اوبه راواخيستې نونه حانث كيږي ولې چې حقيقة محلوف عليه نه ده موجودشوی لهذانه حانث كيږي، دصاحبينوپه نزدپه دواړوصورتونوكې حانث

کیږي مبنی اختلاف هغه ده چې دامام صاحب په نزدله مجازمتعارف څخه حقیقة مستعمله اولی دی اودصاحبینوپه نزدعموم مجازاولی دی .

ف :دامام صاحب قول راجح دی لماقال ابراهیم ابن محمدالحلبی :وفی المجتبی ,ولجنس هذه المسائل اصل حصن وهوانه متی عقد یمینه علی شئ لیس حقیقة مستعملة وله مجاز متعارف یحمل علی المجاز اجماعا کمااذاحلف لایاکل من هذه النخلة وان کانت له حقیقة مستعملة یحمل علی الحقیقة اجماعا کمن حلف لایاکل لحماوان کانت له حقیقة مستعملة ومجاز متعارف فعنده یحمل علی الحقیقة وعندهمایحمل علیهما لابطریق الجمع بین الحقیقة والمجاز ولکن بمجازیعم الفردهماوهو الاصح (مجمع الانهر:۲/۳۰۰،کذافی البحرالرائق:۴/۳۲۹)

(۲۲)قوله بخلاف من ماء دجلة ای لوحلف لایشرب من ماء دجلة فانه یحنث بای وجه شرب ،یعنی که چاقسم واخیست چې والله زه ددریاب دجله اوبه ونه څښم بیایې ددجلې اوبه په لوښي کې راواخیستې اووي څښلې نوحانث کیږي ولی چې داقسم په داسې اوبومنعقدشوی دی کومې چې دجلې ته منسوب دي نوپه لوښي کې له راخیستلوڅخه وروسته هم هغه اوبه ددجلې اوبه دي .

(۲۳)إن لم أشرَبْ مَاءَ هذا الكوزِ اليَوْمَ فَكَذَا وَ لا مَاءَ فِيه او كان فَصُبَّ او أطلَقَ وَ لا مَاءَ فِيه لا يَحْنَثْ (۲۴) وَإن كان فَصُبَّ حَنِثَ (۲۵) حَلَفَ لَيَصْعَدَنَّ السَّمَاءَ او لَيَقْلِبَنَّ هذا الحَجَرَ ذَهَبًا حَنِثَ لِلْحَالِ

ترجمه :که ونه څښم ددې کوزې اوبه نن نوداسې ده حال داچې په دې کې اوبه نشته یااوبه خووې مگر چپه یې کړې یاهغه مطلق وواېي اوپه دې کې اوبه نه وي نونه حانث کیږي ،اوکه اوبه وي چپه یې کړې نوحانث کیږي ،قسم یې واخیست چې ضرور به اسمان ته خیږي یابه دا ډبره سره زرجوړوي نوفی الحال حانث کیږي .

تشریح :(۲۳)که چاداسې وویل چې که مانن ددې کوزې اوبه ونه څښلې نوزماغلام ازاددی اوس حال دادی چې په دې کوزې کې اوبه نشته یااوبه وې مگرده چپه کړې ،یاده مطلق وویل چې که مادد ې کوزې اوبه وڅښلې نوزماغلام ازاددی یعنی لفظ الیوم یې اضافه نه کړاوپه کوزه کې اوبه هم نشته نوپه دې ټولوصورتونوکې دطرفینوپه نزدحالف نه حانث کیږي ولی چې دیمین مطلق عن الوقت دانعقادلپاره شرط دادی چې دیمین تکمیل متصوروي که تکمیل یمین متصورنه وي نویمین نه منعقدکیږي اوپه مذکوره بالاصورتونوکې تکمیل یمین متصورنه دی لهذانه حانث کیږي ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزددتکمیل یمین متصوروالی شرط نه دی لهذاپه مذکوره صورتونوکې حالف حانث کیږي .

(۲۴)اوکه چاداسې وویل چې که زه ددې کوزې اوبه ونه څښم نه زماغلام ازاددی یعنی داالیوم قیدیې ونه لګاووپه کوزه کې اوبه هم شته مګرده اوبه چپه کړې نوحانث کیږي اوکفاره به ورکوي ولی چې له یمین څخه په فاغیدلوسره په ده دیمین پوره کول واجب وواوتکمیل یمین متصورهم وواوس کله چې محلوف علیه فوت شونودیمین پوره کیدل فورت شولهذاحانث کیږي .

(۲۵)که چاقسم واخیست چې والله زه به اسمان ته وخیږم یاوالله زه به داډبره سره زرجوړکړم نوداقسم منعقدکیږي ولی چې تکمیل یمین متصوردی ځکه چې فرشتې اسمان ته خیږي اوډبره دالله تعالی په قدرت سره سره زرکیدای شي لهذایمین منعقدکیږي اوله قسم څخه وروسته متصل حانث کیږي ولی چې حالف عادةً عاجز دی لهذافی الحال حانث کیږي .

(٢٦)لَا يُكَلِّمُهُ فَنَادَاهُ وَهُوَ نَائِمٌ فَأَيْقَظَهُ (٢٧)أَوْ إِلَّا بِإِذْنِهِ فَأَذِنَ لَهُ وَلَمْ يَعْلَمْ فَكَلَّمَهُ حَنِثَ (٢٨)لَا يُكَلِّمُهُ شَهْرًا فَهُوَ مِنْ حِينِ حَلَفَ (٢٩)لَا يَتَكَلَّمُ فَقَرَأَ الْقُرْآنَ أَوْ سَبَّحَ لَمْ يَحْنَثْ (٣٠)يَوْمَ أُكَلِّمُ فُلَانًا فَعَلَى الْجَدِيدَيْنِ فَإِنْ نَوَى النَّهَارَ خَاصَّةً صُدِّقَ (٣١)وَلَيْلَةَ أُكَلِّمُهُ عَلَى اللَّيْلِ

ترجمه: له ده سره به خبري ونه کړي بیايې هغه ته اواز وکړ په داسې حال کې چې هغه ویده وو نویې هغه راویښ کړ، یايې وویل چې له ده سره به خبري ونه کړي مګر دده په اجازت سره نو ده اجازت ورکړ حال دا چې دی په خبر نه وو نو له یې ده سره خبري وکړي نو حانث کیږي، له ده سره به خبري ونه کړي تر یو میاشتې پوري نو دا قسم له وخت څخه شروع کیږي، او قسم یې واخیست چې خبري به نه کوم بیا یې قرآن یا تسبیح وویل نو نه حانث کیږي، کوم وخت چې له فلانکی سره خبري وکړم، نو دا په شپه او ورځ دواړو محمول دی او که یې قصد وکړ د خاص ورځې نو تصدیق به یې کیږي، او کومه شپه چې له فلان سره خبري وکړم په شپه محمول دی.

تشریح: (٢٦)که چا قسم واخیست چې والله زه به له فلان سره خبري ونه کړم بیا هغه ویده وو حالف هغه ته ورږغ کړ چې په دې سره هغه راویښ شو نو حالف حانث کیږي ولی چې حالف له ده سره کلام وکړ او هغه د هغه غوږ ته هم ورسید ولیکن هغه صرف د خوب په وجه ونه فهموی.

(٢٧)قوله او الاباذنه الخ ای او حلف لایکلمه الاباذنه الخ، یعنی که چا قسم واخیست چې والله زه به له فلان سره خبري ونه کړم مګر دده په اجازه سره، بیا ده اجازت ورکړ مګر حالف په اجازت خبر نه شو، او له ده سره یې خبري وکړي نو حانث کیږي ولې چې اذن له آذن څخه مشتق دی کوم چې اګاه کولو په معنی دی او اګاه کول بغیر له اوریدلو او خبریدلو نه شي متحقق کیدلی حال دا چې ده هیڅ نه دي اوریدلي لهذا په دې باره کې داسې نه شي ویل کیدلی چې ده ته اجازت ورکړل شوی دی.

(٢٨)که چا په دې ډول قسم واخیست چې والله زه به له فلان سره تر یو میاشتې پوري خبري ونه کړم نو دا میاشته له هغه وخت څخه شروع کیږي کوم وخت چې ده قسم اخیستی دی ولی چې دا خبره دی د غضب په حالت کې کوي نو دده دا حالت دال دی چې د قسم سره متصله زمانه په دې زمانه کې شامله ده په کومه کې چې د خبري نه کولو قسم اخیستی دی.

(٢٩)که چا قسم واخیست چې والله زه به خبري ونه کړم بیا ده قرآن مجید تلاوت کړ یا یې تسبیح وویلې نو نه حانث کیږي ولی چې قران مجید تلاوت کونکی ته متکلم نه بلکه قاری ویل کیږي او تسبیح ویونکی ته مسبح ویل کیږي، بعض حضرات وایې چې که له لمانځه څخه د باندې یې وویل نو حانث کیږي.

ف: اول قول راجح دی لمافی الدرالمختار: (حلف لایتکلم فقرأالقران اوسبح فی الصلوة لایحنث) اتفاقا وفی فعل ذالک خارجها حنث علی الظاهر) الی ان قال، ورجح فی الفتح عدمه مطلقا وعلیه الدرر والملتقی بل فی البحر عن التهذیب ان لایحنث بقراة الکتب فی عرفنا انتهی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: ٣/١١٣)

(٣٠)که چا قسم داسې واخیست چې زه په کومه ورځ خبري وکړم نو زما غلام ازاد دی نو په دې صورت کې که دی په ورځ کې خبري وکړي نو هم دده غلام ازادیږي او که په شپه کې خبري وکړي نو هم دده غلام ازادیږي ولی اسم یوم چې کله له غیر ممتد فعل سره مقترن وي نو له ده څخه مطلق وخت مراد وي، شپې او ورځې ته جدیدین د دوئ د تجدد په وجه سره ویل شوي دي، او که ده د مذکوره بالا قسم پر وخت خاص په

ورځ کې دخبري کولو نيت کړی وونودده تصديق به کيږي ولی چې ده دخپل کلام دحقيقت نيت کړی دی ،له امام ابويوسف رحمه الله څخه مروی ده چې قضاء دده تصديق نه کيږي ولی چې ده دخلاف ظاهراوخلاف متعارف نيت کړی دی .

(۳۱)قوله وليلة اكلمه على الليل اى لوقال ليلة اكلم فلانا فعبدى حرفهو على الليل ،يعنی که چاداسې وويل چې زه له فلان سره په کومه شپه خبري وکړم نوزماغلام ازاددی نوله دي څخه صرف شپه مراده ده لهذاپه شپه کې په خبري کولوسره دی حانث کيږي ولی چې لفظ دليل دشپې په تياره کې حقيقت دی لکه نهارچې دورځې په رڼاکې حقيقت دی اوپه حالت افرادکې په مطلق وخت کې مستعمل نه دی لهذا ورځې ته نه شامليږي .

(۳۲)إن كلمته إلا أن يقدم زيد أو حتى أو إلا أن يأذن أو حتى فكذا الكلم قبل قدومه أو إذنه حنث وبعدهما لا (۳۳)وإن مات زيد سقط الحلف (۳۴)لا يأكل طعام فلان أو لا يدخل داره أو لا يلبس ثوبه أو لا يركب دابته أو لا يكلم عبده إن أشار وزال ملكه وفعل لا يحنث (۳۵)كالمتجدد (۳۶)وإن لم يشر لا يحنث بعد الزوال (۳۷)وحنث بالمتجدد

ترجمه :که ماله ده سره خبري وکړي مګرداچې زيدراشي ياترڅوپوري يامګرداچې اجازه راکړي ياترڅوپوري نوداسې دی بيايې خبري وکړي دزيدله راتلويااله اجازي څخه وړاندي نوحانث کيږي اوله دي څخه وروسته نه حانث کيږي ،اوکه زيدوفات شونوقسم ختميږي ،نه به خوري دفلان خورک يابه داخل نه شي دفلان کورته يابه نه اغونديدفلان جامې ،يابه سورنه شي دفلان په سورلی ،يابه خبري ونه کړي دده له غلام سره نوکه يې په اشاره سره متعين کړاودده ملک زائل شويياده داوکړل نونه حانث کيږي لکه په نوي اخيستل شوی سره ،اوکه يې اشاره ونه کړه نونه حانث کيږي له زوال ملک څخه وروسته ، اوحانث کيږي په متجددکې .

تشريح :(۳۲)که چاداسې وويل چې که ماله فلان سره خبري وکړي مګرداچې زيدراشي ،يايې داسې وويل چې که ماله فلان سره خبري وکړي ترڅوچې زيدراشي ،يايې داسې وويل چې که ماله فلان سره خبري وکړي مګرداچې زيداجازت راکړي ،ياترڅوچې زيداجازت راکړي نوزماغلام ازاددی بيادزيدله راتلوڅخه وړاندي يادزيدله اجازي ورکولوڅخه وړاندي ده له فلان سره خبري وکړي نوداکس په دي ټلورواړه صورتونوکې حانث کيږي ولی چې يمين باقی دی ،اوکه دزيدله راتلويااجازي ورکولوڅخه وروسته ده له فلان سره خبري وکړي نونه حانث کيږي ولی چې له فلان سره ترخبرو کولووړاندي يمين انتهاء (پای)ته رسيدلی دی .

(۳۳)اوکه په لوړذکرشوي صورت کې زيدوفات شونويمين ساقطيږي ولی چې يمين دزيدپه راتلويااجازي ورکولوسره پای ته رسيږي څرنګه چې اوس دزيدراتګ يااجازت ورکول ممکن نه دي لهذابرفی اليمين متصورنه دی کوم چې دانعقاديمين لپاره شرط دی ځکه نويمين ساقطيږي .

(۳۴)که چاقسم واخيست چې والله زه به دفلان دوډۍ ونه خورم يادفلان کورته به داخل نه شم ،يابه دفلان جامه وانه غوندم ،يابه دفلان په څاروی سورنه شم ،يابه دده له غلام سره خبري ونه کړم نوکه حالف ددي شيانوطرف اشاره کړي وي مثلاويلي وي چې دادوډۍ به نه خورم بيامذکوره اشياء دفلان له ملک څخه ووتل اوس حالف داخورک وخوړی يادي کورته داخل شويايې هغه جامه واغوستله ياپه هغه

ځاروی سورشویایې له هغه غلام سره خبري وکړي نوپه دي ټولو صورتونو کې نه حانث کیږي ولی چې دایمین په داسې شیانو منعقدشوی دی کوم چې دفلان طرف ته منسوب دي او اضافت معتبر دی ولی چې داشیان ذاتامقصود بالهجران نه دي بلکه دمالک طرف ته دمنسوبیدلوپه وجه یې قصددهجران کیږي لهذا دفلان طرف ته داضافت دباقی نه پاتې کیدلوپه وجه یمین باطلیږي .

(۳۵)قوله کمافی المتجددای کمالایحنث ان تجددالملک فی مثل هذه الاشیاء ،یعنی په لوړذکرشویو صورتونوکې حالف نه حانث کیږي لکه چې دفلان د نویو اخیستل شویو شیانوپه استعمالولوسره چې نه حالف نه حانث کیږي مثلاحالف قسم واخیست چې والله زه به دفلان له دي غلام سره خبري ونه کړم بیافلان یوبل غلام واخیست اوله هغه سره حالف خبري وکړي نوحالف نه حانث کیږي ولی چې حالف دحلف په وخت کې اشاره کړي وه اوشاره په تعریف کې کمال په وجه سره معتبره ده لهذاله مشارالیه غلام سره په خبروکولوحانث کیږي ،اوڅرنګه چې ده دنوي غلام طرف ته اشاره نه ده کړي لهذاله هغه سره په خبروکولونه حانث کیږي .

(۳۶)اوکه په پورته ذکرشوي صورت کې حالف مذکوره شیانوته اشاره نه وه کړي بیاله هغوشیانوڅخه دمالک ملک زائل شواوس حالف هغه شیان استعمال کړل نوحانث کیږي مثلاحالف قسم اخیستی وو چې والله دفلان له غلام سره به خبري ونه کړم بیافلان خپل غلام خرڅ کړاوس حالف له هغه سره خبري وکړي نونه حانث کیږي ولی چې دانعقادیمین لپاره ددي شیانودفلان طرف ته منسوب والی شرط دی لهذادشرط دمعدوم والی په وجه نه حانث کیږي .

(۳۷)البته په دي صورت کې دنویو اخیستل شویو شیانوپه استعمالولوسره حانث کیږي ولی چې دحانث والی شرط (یعنی ددي شیانودفلان طرف ته منسوب والی)دلته موجوددی په دي وجه حالف حانث کیږي ،څرنګه چې په دي صورت کې دحالف له طرف څخه ددي شیانوطرف ته اشاره نه ده شوي لهذاداصورت په حکم کې له تیرشوی صورت څخه مختلف دی .

(۳۸)وفي الصَّدِيقِ وَالزَّوْجَةِ حَنِثَ فِي الْمُشَارِ إِلَيْهِ بَعْدَ الزَّوَالِ (۳۹)وفي غَيْرِ الْمُشَارِ لَا (۴۰)وَحَنِثَ بِالْمُتَجَدِّدِ (۴۱)لَا يُكَلِّمُ صَاحِبَ هَذَا الطَّيْلَسَانِ فَبَاعَهُ فَكَلَّمَهُ حَنِثَ

ترجمه :اودمتعین دوست اوښځې په صورت کې حانث کیږي ددوستې اونکاح له زوال څخه وروسته ، اوپه غیرمعین کې نه ،اوحانث کیږي په نوی دوست اوښځې سره ،خبري به ونه کړم ددی څادرله مالک سره بیاهغه څادرخرڅ کړاوحالف له هغه سره خبري وکړي نوحانث کیږي .

تشریح :(۳۸)قوله وفی الصدیق الخ ای لوحلف لایکلم صدیق فلان هذاحنث بعدزوال الصداقة ،یعنی که چاپه اشاره کولوسره وویل چې زه به دفلان له دي دوست سره یادفلان له دي ښځې سره خبري ونه کړم نودفلان له خپل دي دوست سره ددوستي ختمیدلوڅخه وروسته اودي ښځې ته له طلاق ورکولوڅخه وروسته که هغه له دوئ سره خبري وکړي نوحانث کیږي ولی چې دفلان طرف ته اضافت صرف دپیږندنې لپاره دی مقصودبالهجران په خپله دفلان دوست اوښځه ده ځکه چې دفلان له دوست اوښځې څخه دده ذاتی نفرت دی اوددات له اعتبارسره دفلان طرف ته داضافت وصف لغودی.

(۳۹)قوله ولی غیر المشار الیه لای لوقال لااکلم صدیق فلان اوروجته ولم یشر الیهمافلایحنث بعدزوال الصداقة والزوجیة ،
یعنی که په پورته ذکرشوی صورت کې حالف دفلان ددوست اوښځې طرف ته اشاره نه وه کړې نودهغوله دوستې اونکاح ختمیدلو څخه وروسته که حالف له هغوی سره خبرې وکړې نونه حانث کیږي ولی چې دلته دوه احتماله دي کیدای شي چې دفلان له دوست اوښځې سره ترک تکلم لعینه وي یعنی په خپله له دوئ څخه دنفرت په وجه وي اوکیدای شي چې ترک تکلم لغیره وي یعنی ددوست یاښځې په وجه سره نه وي بلکه دفلان په وجه وي نودشک دپیدا کیدلو په وجه نه حانث کیږي .
(۴۰)اوکه حالف بغیرله اشارې وویل چې دفلان له دوست یاښځې سره به خبرې ونه کړم نوکه ده دفلان له نوي دوست یانوې ښځې سره خبرې وکړې نوحانث کیږي ولی چې دحنث شرط (یعنی ددوست اوښځې دفلان طرف ته منسوب والی) دلته متحقق شو .
(۴۱)که چاقسم واخیست چې والله زه به ددې څادروالاسره خبرې ونه کړم بیاهغه څادرخرخ کړاوس حالف له هغه سره خبرې وکړې نوحانث کیږي ولی چې دڅادرپه وجه څوک له چاسره دښمنې نه کوي لهذا داضافت صرف دتعریف لپاره دی مقصود بالحلف دڅادروالاذات دی .

(۴۲)الزَّمَانُ وَالْحِينُ وَمُنَكَّرُهُمَا سِتَّةُ أَشْهُرٍ (۴۳)وَالدَّهْرُ وَالْأَبَدُ الْعُمُرُ (۴۴)وَدَهْرٌ مُجْمَلٌ (۴۵)وَالْأَيَّامُ وَأَيَّامٌ كَثِيرَةٌ وَالشُّهُورُ وَالسِّنُونَ عَشَرَةٌ (۴۶)وَمُنَكَّرُهَا ثَلَاثَةٌ

ترجمه :اولفظ دالزمان اوالحین اوددوئ دواړودنکرومدت شپږمیاشتې دی ،اودالدهراوالابدمدت ټول عمردی، اودهر (نکره)مجمل دی ،اوله الایام اوایام کثیرة اوالشهوراوالسنون څخه لس مراددي ، اوددوئ له نکروڅخه درې مراددي .

تشریح :(۴۲)که چاپه عربۍ ژبه قسم واخیست چې والله لااکلم فلاناالزمان اوالحین (حین اومان یې معرف ذکرکړل) یاوالله لااکلم فلانازماناوحینا(یعنی دواړه یې نکره ذکرکړل)نوله دې څخه دقسم له وخته شپږمیاشتې مراددي ولی چې له حین څخه کله مدت قلیل اوکله څلویښت کاله اوکله شپږمیاشتې مرادوي نوشپږمیاشتې درمیانه مده ده وخیرالامور اوسطهالهذا داطلاق په وخت کې همدامرادوي ، اومعرف اونکره دواړه برابردي ،اودزمان لفظ دحین په معنی سره اسعمالیږي ،مارأیتک مذزمان ،په معنی دمارأیتک مذحین دی لهذا له زمان څخه به هم شپږمیاشتې مرادوي .
(۴۳)اوکه حالف لفظ الدهروواېومثلا وي ویل والله لااکلمه الدهریایې لفظ الابدذکر کړمثلاوي ویل والله لااکلمه الابد نوله دې څخه ټول عمرمرادی دی ولی چې الدهراوالابدچې کله معرف باللام وي نوله دې څخه دعربودااستعمال مطابق ټول عمرمرادیږي .
(۴۴)یعنی لفظ دهر(منکر)دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدمجمل دی نوکه چاوویل والله لااکلمه دهرنودامجمل دی هیڅ مقداریې معلوم نه دی ولی چې دلفظ دهرمنکراستعمال په زمانه طویله یاقصیره یااوسطه کې ثابت نه دی ،دصاحبینو رحمهماالله تعالی قول دادی چې لفظ دهرنکره هم دمعرفه په شان دشپږمیاشتولپاره دی حال داچې امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایې لاادری الدهر(ماته معلومه نه ده چې دهرڅه دی).

ف: دصاحبينو قول راجح دى لمافي الدر المختار: (دهر) منكر (لم يدر و قالا كالحين) وغير خاف انه اذا لم يدر عن الامام شئ في مسئلة وجب الافتاء بقولهما لهر (الدر المختار: ٣/١١٨)

(۴۵) اوله الايام، اوايام كثيرة څخه لس مراددي يعني كه چاقسم واخيست چې والله لا اكلمه الايام ،ياي وويل والله لا اكلمه اياما كثيرة نو دا قسم دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد په لسوورځو واقع كيږي ولې چې د الايام جمع ذكر كړي دي نو په لفظ جمع سره چې كوم انتهائي عدد ذكر كيږي هغه به مرادوي كوم چې لس دى (يعنى عرب ثلثة ايام تاعشرة ايام وايي له دي څخه وروسته جمع نه بلكه مفرذكر كوي مثلا احد عشر يوما)، او دصاحبينو په نزد له الايام څخه مراد اوه ورځې دي .

ف: دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دى لمافي الدر المختار: (الايام وايام كثيرة و الشهور و السنون)..... (عشرة) من كل صنف ،قال العلامة ابن عابدين: وهو يقول ان اكثر مايطلق عليه اسم الجمع عشرة و اقله ثلاثة فاذا دخلت عليه ال استغرق الجمع وهو العشر (الدر المختار مع الشامية: ٣/١١٩)

(۴۶) او كه يې وويل والله لا اكلمه الشهور، نو دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دا قسم په لسو مياشتو واقع كيږي ،همدا شان كه يې وويل والله لا اكلمه السنون نو دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دا قسم په لسو كلونو واقع كيږي لما ذكرنا، او دصاحبينو په نزد له الشهور څخه مراد دكال دولس مياشتې دي او له السنون څخه مراد ټول عمر دى ولې چې همدا معهود دى .

(۴۷) او كه ايام اوشهور اوسنون نكره ذكر كړل نو دايام ذكر كولو په صورت كې درې ورځې اودشهور ذكر كولو په صورت كې درې مياشتې اودسنون ذكر كولو په صورت كې درې كاله مراددي ولې چې دا درې واړه جمع منكر دي لهذا ترڅو چې په كثرت سره متصف نه وي له دوئ څخه به جمع اقل مرادوي چې درې دي ځكه چې اقل متيقن دى .

بَابُ الْيَمِينِ فِي الطَّلَاقِ وَالْعَتَاقِ

داباب دطلاق اوعتاق دقسم په بيان كې دى

په دې باب كې يې داسې افعال (طلاق ،عتاق وغيره) ذكر كړي دي په كوموچې وقوع قسم ډيره ده په نسبت بيع ،اوشراء، تزويج ،صوم اوصلوة وغيره ته ،ځكه يې ددې تفصيل مقدم كړ ،بلكه مصنف رحمه الله ديمين په ابوابو كې ترتيب په دې ډول ايښى دى چې دكوم باب دمسائلو وقوع ډيره وي هغه يې په قليل الوقوع مقدم كړى دى چنانچه دهرباب دمسائلو وقوع له ماقبل څخه اقل اوله مابعد څخه اكثره وي .

(١) إن وَلَدت فَأنتِ كَذا حَنِثَ بِالْمَيِّتِ (٢) بِخِلَافِ فَهُوَ حُرٌّ لَو وَلَدَتْ وَلَدًا مَيِّتًا ثُمَّ آخَرَ حَيًّا عَتَقَ الْحَيُّ وَحدَه (٣) اَوَّلُ عَبدٍ أَملِكُهُ فَهُوَ حُرٌّ فَمَلَكَ عَبْدًا عَتَقَ وَلَو مَلَكَ عَبدَيْنِ مَعًا ثُمَّ آخَرَ لَا يَعتِقُ وَاحِدٌ مِنهم (۴) وَلَو زَادَ وَحدَهُ عَتَقَ الثَّالِثُ (۵) وَلَو قَالَ آخِرُ عَبدٍ أَملِكُهُ فَهُوَ حُرٌّ فَمَلَكَ عَبدًا فَمَاتَ لَم يَعتِقْ فَلَو اشتَرَى عَبدًا ثُمَّ عَبدًا فَمَاتَ عَتَقَ الْآخَرُ

ترجمه: كه تاماشوم وزيږاوونو داسې ده نو په مړه ماشوم زيږيدلو سره حانث كيږي ،په خلاف دديْ وينا چې هغه ماشوم ازاد دى ،بيا هغې مړزوى وزيږاوو بيا دوهم ژوندى نو صرف ژوندى ازاديږي ،اول غلام دكوم چې زه مالك شم هغه ازاددى بيا هغه دغلام مالك شونو ازاديږي اوكه ددوغلامانو په يو ځاى مالك شو بيا دد ريم نو نه ازديږي له دوئ څخه يو هم ،اوكه يې لفظ دوحده زيات كړنو دريم ازاديږي، اوكه يې وويل اخري غلام چې زه مالك شم هغه ازاددى بيامالك شود غلام او مړشو نو نه ازاديږي نوكه يې واخيستى يو غلام بيا بل غلام بيا مړشو نو اخيري يو ازاديږي له هغه وخت څخه چې مالك شوى يې دى.

تشريح:(۱)كه چاخپلې ښځې يامينځې ته وويل چې كه تاماشوم وزيږاوونوته طلاقه يې ياتهٔ ازاده يې بيا هغې مړماشوم وزيږيدونو حالف حانث كيږي يعنى كه ده ښځې ته ويلي وو نو ښځه يې طلاقيږي اوكه يې مينځې ته ويلي وو نو مينځه ازاديږي ولى چې اصول داديْ چې مړماشوم دغيرپه حق كې ولددى اوپه خپل حق كې ولدنه شمارل كيږي همداوجه ده چې په مړه ماشوم سره ددمطلقې عدت تيريږي اوله دي څخه وروسته چې كومه وينه وي هغه نفاس شمارل كيږي ليكن هغه په خپله وارث نه دى اوده ته غسل نه وركول كيږي اوهغه ته لمونځ نه وركول كيږيي .

(۲)اوكه حالف خپلې مينځې ته وويل كه تاماشوم وزيږاوونو هغه ازاددى ،نواوس شرط دادى چې ماشوم به ژوندى وي نوكه دي مړماشوم وزيږاوو بيا يو بل ژوندى ماشوم وزيږاوونو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدصرف ژوندى ماشوم ازاديږي مړماشوم ازادنه دى ولى چې حالف حريت دمولودوصف گرځولى دى لهذا مولودژوندضروري دى ولى چې مړشوى دصف حريت نه قبلوي .

(۳)كه چاداسې وويل چې اول غلام چې زه يې مالك شم هغه ازاددى بيا هغه ديوه غلام مالك شونو غلام ازاديږي ولى چې پرده داول غلام اطلاق صحيح دى ځكه چې اول نوم دى دهغه چې له هغه څخه وړاندي دهغه له جنس څخه بل نه وي خواه كه له ده څخه وروسته وي اوكه نه وي ،اوكه حالف په يوځاى ددووغلامانومالك شوبيادريم مالك شونوله دي دريوڅخه يوغلام هم نه ازاديږي ولى چې په اولنيودووكې تفردنشته بلكه دوه دي اوپردريم داول اطلاق صحيح نه دى ولى چې هغه له اولنيو دووڅخه وروسته په ملك كې راغلى دى لهذا يوهم نه ازاديږي .

(۴)اوكه حالف دوحده لفظ اضافه كړمثلاوي ويل اول عبداملكه وحده فهوحر ،(يعنى دكوم يواځنى غلام چې زه اول مالك شم هغه ازاددى)بيا هغه يوځاى ددووغلامانو مالك شوله دي څخه وروسته بيا ديوه دريم غلام مالك شونو دادريم غلام ازديږي ولى چې دده په باره كې دحالف داقول صادق دى چې داهغه يواځنى غلام دى دكوم چې حالف اول مالك شوى دى نود شرط حريت دموجودوالى په وجه ازاديږي.

(۵)اوكه چاوويل چې دكوم غلام چې زه دټولوپه اخيركې مالك شم هغه ازاددى ،بيا هغه ديوه غلام مالك شوله دي څخه وروسته بيادبل مالك شوبيادى مړشونووروسته اخيستل شوى غلام له هغه وخت څخه ازادشمارل كيږي كوم وخت چې حالف دهغه مالك جوړشوى دى ولى چې حالف له ټولوڅخه وروسته دهغه مالك شوى دى لهذا دحالف دازادولوقول دهمده په باره كې دى ،نوكه مالك دى دصحت په

حال کې اخیستی وونوله کل ترکه څخه ازادیږي اوکه یې په مرض موت کې اخیستی وونوله ثلث ترکه څخه ازادیږي.

(٦) كُلُّ عَبْدٍ بَشَّرَنِي بِكَذَا فَهُوَ حُرٌّ فَبَشَّرَهُ ثَلَاثَةٌ مُتَفَرِّقُونَ عَتَقَ الْأَوَّلُ وَإِنْ بَشَّرُوهُ مَعًا عَتَقُوا (٧) وَصَحَّ شِرَاءُ أَبِيهِ لِلْكَفَّارَةِ لَا شِرَاءُ مَنْ حَلَفَ بِعِتْقِهِ (٨) وَأُمِّ وَلَدِهِ (٩) إِنْ تَسَرَّيْتُ أَمَةً فَهِيَ حُرَّةٌ صَحَّ لَوْ فِي مِلْكِهِ وَإِلَّا لَا

ترجمه: کوم غلام چې ماته فلانکی زیری راواوروي هغه ازاددی، بیاده متفرق غلامانوزیری وروااوراوونواول ازادیږي اوکه ټولوپه یوځای زیری ورکړنوټول ازادیږي، اوصحیح دی دخپل پلار اخیستل دکفاري لپاره نه هغه دکوم دازادي قسم چې یې اخیستی دی، اودده ام ولده، که زه مینځې ترخپل لاس لاندي راولم نوهغه ازاده ده نوصحیح ده که دده په ملک کې وه که نه نو نه ده.

تشریح: (٦) که چاداسې وویل چې کوم غلام چې ماته دفلانکي خبري زیری راکړي هغه ازاددی، بیاده ته دریوغلامانو یوپه بل پسې دهغې خبري زیري ورکړنوپه دویٔ کې چې کوم یوه اول زیری ورکړهغه ازدیږي ولې چې زیری ورکول له اول څخه متحقق شونه له باقي دوو څخه، اوکه دریواړوپه یووخت زیري ورکړنودري واړه ازادیږي ولې چې زیري وراورول له دریواړو څخه متحقق شواویری ورکول له متعدد څخه متحقق کیدای شي کماقال الله تعالی ﴿وَبَشَّرُوهُ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ﴾.

(٧) یعنی دکفاري لپاره دخپل پلار (یاکوم بل ذی رحم محرم) اخیستل جائزدی مثلاً دچاپرذمه دروژي کفاره وه اودهغه پلاردچاغلام ووده خپل پلاردکفاري په نیت واخیستی نودده پلارازادیږي اوکفاره هم اداء کیږي ولې چې دذی رحم محرم قریب اخیستل دهغه ازادول دي اوپرحالف ازادول لازم دي کوم چې متحقق شو، البته دکوم غلام دازادي چې حالف قسم اخیستی وي نه دهغه په اخیستلوسره کفاره نه اداء کیږي مثلاً دچاغلام ته یې وویل که ماته واخیستی نوته ازادیې بیادکفاري داداء کولوپه نیت هغه واخیستی نودهغه په ازادیدلوسره کفاره نه اداء کیږي ولې چې داغلام په یوه وجه سره دازادي مستحق ګرځیدلی دی نودهغه مملوکیت ناقص شوحال داچې دکفاري لپاره کامل مملوک والی ضروري دی.

(٨) قوله وام ولده ای لایصح ایضاشراء ام ولده للکفارة، یعنی په همدي ډول که دچاپه نکاح کې دبل چامینځه وي له کومې څخه چې دده بچیان هم وي ده خپلي دي بنځې ته وویل چې که ماته واخیستی نوته زمادکفاري له طرف څخه ازاده یې بیاده هغه واخیستله نودادخپلي ام ولدي اخیستل دي لهذاهغه خوازادیږي مګردده کفاره نه اداء کیږي ولې چې دادام ولده والی په وجه سره مستحق حریت ده لهذاداازادي من کل الوجوه دیمین له طرف څخه نه شمارل کیږي.

(٩) تسرّی له تحصین (دجماع په معنی) څخه عبارت دی یعنی مینځه دجماع لپاره متعین کول اوله کورڅخه دباندي له خدمت کولوڅخه منع کولوته ویل کیږي، نوکه چاداسې وویل چې که زه کومه مینځه په خپله ماتحتی کې راولم نوهغه ازاده ده، نوکومه مینځه چې دحلف پروخت دده په ملک کې وي دهغې په باره کې داقول صحیح دی یعنی که یې هغه په خپله ماتحتی کې راوستله نوهغه ازادیږي ولې چې امه عموماهغې ته ویل کیږي کومه چې دچاپه ملک کې وي لهذاقسم دهغې په باره کې منعقدیږي، اوکومه

مينځه چې دحلف پروخت دده په ملک کې نه وي هغه که دی په خپله ماتحتی کې راولې نوهغه نه ازادېږي ولی دهغې په باره کې يمين منعقدشوی نه دی .

(۱۰) كُلُّ مَمْلُوكٍ لِي حُرٌّ عَتَقَ عَبِيدُهُ الْقِنُّ وَأُمَّهَاتُ أَوْلَادِهِ وَمُدَبَّرُوهُ (۱۱) لَا مُكَاتَبُهُ (۱۲) هَذِهِ طَالِقٌ أَوْ هَذِهِ وَهَذِهِ طَلُقَتْ الْأَخِيرَةُ وَخُيِّرَ فِي الْأُولَيَيْنِ (۱۳) وَكَذَا الْعِتْقُ وَالْإِقْرَارُ

ترجمه :زماټول غلامان ازاددي نوازادېږي دده ټول غلامان اوامهات الاولاداودده مدبر ،نه دده مكاتب ، داطلاق ده يادااودانواخيری طلاقيږي اوپه اولنيودووکې خاوندلره اختيار دی ،همداشان عتق اواقراردی .

تشريح :(۱۰)که چاداسې وويل چې زماچې څومره مملوک دي هغه ټول ازاددي نوپه دي ويناسره دده ټول غلامان اودده ام ولدي مينځې اودده مدبرغلامان ازادېږي ولی چې له مطلق څخه کامل مرادوي اوپه دې دريوقسمونوکې ملک کامل دی ځکه چې په دوئ کې دمولی ملک يدااورقبة دواړه قسمه شته همدا وجه ده چې له ام ولداومدبري سره دمولی وطی کول جائزدی لهذا لفظ مملوک دي ټولوته شامل دی .

(۱۱)البته په مذکوره صورت کې دحالف مکاتب غلام نه ازادېږي ولی چې په مکاتب کې ملکيت کامل نه دی په دي وجه چې په مکاتب کې رقبة ملک قائم دی يدانشته همداوجه ده چې له مکاتبې سره وطی کول جائزنه ده ،البته که مولی ددوئ دازاديدلونيت هم وکړي نوبياازادېږي .

(۱۲) که چاخپلو دريوښځوته داسې وويل هذه طلاق اوهذه وهذه (داطلاق ده يادااودا)نوپه دې دريوکې چې يې دکومې طرف ته په اخيرکې اشاره کړي ده هغه خوطلاقيږي په باقی دووکې خاوندلره اختيار دی په دوئ دواړوکې چې يې کومه يوه خوښه شي هغه دي دطلاق لپاره خاصه کړي ولی چې حرف او ،له اولينودووښځوڅخه په يوه کې داثبات حکم لپاره دی لهذاپه اولنيودووکې به يوه دطلاق لپاره خاصه کړي بيامتکلم دلفظ واؤپه ذريعه دريمه ښځه پرمطلقې عطف کړي ده اوعطف دحکمی شراکت لپاره وي نوداداسې ده لکه چې ده داسې ويلې وي چې په تاسې دواړوکې يوه مطلقه اوداريمه مطلقه ده لهذادريمه په هرحال طلاقيږي اوپه اولنيودووکې ده ته اختيار دی .

(۱۳)مذکوره بالاتفصيل په ازادولواواقرارکولوکې هم دی مثلاچاخپلودريوغلامانوته داسې وويل داازاددی يادااودا، نودريم ازادېږي اوپه اولنيودووکې ده ته اختيار دی چې په دوئ دواړوکې يې دکوم يوه ازادي خوښه شي هغه دي بيان کړي .همداشان که چاداسې اقراروکړچې زماپرذمه دفلان زرروپۍ دي يادفلان اودفلان ،نودده پرذمه ددريم لپاره پنځه سوه لازمې دي اوباقی پنځه سوه دي په اولنيودووکې ديوه لپاره بيان کړي اوکه بلابيانه مړشونوپنځه سوه په اولنيودووکې مشترکې دي .

بَابُ الْيَمِينِ فِي الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ وَالتَّزَوُّجِ وَالصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ وَغَيْرِهَا

داباب داخيستلو ،خرڅولو ،نکاح ،حج ،لمانځه اوروژي وغيره دقسم اخيستلوپه بيان کې دی دجه دمناسبت دمخکني باب په پيل کې تيره شوې ده

(۱) مَا یَحْنَثُ بِالْمُبَاشَرَةِ لَا بِالْأَمْرِ الْبَیْعُ وَالشِّرَاءُ وَالْإِجَارَةُ وَالْاِسْتِئْجَارُ وَالصُّلْحُ عَنْ مَالٍ وَالْقِسْمَةُ وَالْخُصُومَةُ وَضَرْبُ الْوَلَدِ (۲) وَمَا یَحْنَثُ بِهِمَا النِّکَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالْخُلْعُ وَالْعِتْقُ وَالْکِتَابَةُ وَالصُّلْحُ عَنْ دَمِ عَمْدٍ وَالْهِبَةُ وَالصَّدَقَةُ وَالْقَرْضُ وَالْاِسْتِقْرَاضُ وَضَرْبُ الْعَبْدِ وَالذَّبْحُ وَالْبِنَاءُ وَالْخِیَاطَةُ وَالْإِیدَاعُ وَالْاِسْتِیدَاعُ وَالْإِعَارَةُ وَالْاِسْتِعَارَةُ وَقَضَاءُ الدَّیْنِ وَقَبْضُهُ وَالْکِسْوَةُ وَالْحَمْلُ

ترجمه :دکومو امورو په خپله کولو سره چې حانث کیږي نه بل ته په امر کولو سره هغه دادی اخیستل، خرڅول، او په مزدوري ورکول او په مزدوري اخیستل او صلح بعوض مال او قسمة او خصومات او ولد وهل ،او په کومو کې چې په دواړو سره حانث کیږي هغه دادي نکاح او طلاق او خلع او ازادول او مکاتب کول او له قتل عمد څخه صلح او هبه کول او قرض ورکول او قرض اخیستل او غلام وهل او ذبح کول او تعمیر کول او ګنډل او امانت ورکول او امانت ایښودل او په عاریت ورکول او په عاریت اخیستل او قرض اداء کول او قرض وصول کول او جامې ورکول او کوم شئ اوچتول.

تشریح :(۱)یعنی هغه امور چې دهغو په خپله کولو سره انسان حانث کیږي لیکن که یې په وکیل سره وکړي نو نه حانث کیږي دادي بیع ،شراء ،په اجاره (مزدوري) ورکول،او په اجاره (مزدوري) اخیستل ،صلح بعوض مال ،تقسیم کول ،په مقدماتو (دعوو) کې ځواب ورکول ،او اولادو هل ،مثلاً قسم یې واخیست چې والله زه به داشئ خرڅ نه کړم نو که ده خپله خرڅ کړنو حانث کیږي او که دده وکیل خرڅ کړنو نه حانث کیږي ،همداشان که یې دیو شئ په باره کې وویل والله زه به داشئ وانه خلم یا والله زه به داشئ په اجاره ورنه کړم یا والله زه به داشئ په اجاره وانه خلم یا والله زه به دمال په عوض کې صلح ونه کړم یا والله زه به له شریک سره تقسیم ونه کړم یا والله زه به له فلان سره مخاصمت ونه کړم نو ددي ټولو شیانو په باره کې حکم دادی چې په خپله کولو سره یې حانث کیږي مګر په وکیل سره په کولو نه حانث کیږي ولی چې په وکیل سره دکولو په صورت کې دشرط حنث (دهغه کار په خپله کول) دنه موجود یدلو په وجه نه حانث کیږي.

ف:په دي باره کې اصل دادی چې دکومو عقودو حقوق چې له عقد کونکی مباشر سره متعلق وي لکه مذکوره بالاامور دهغو په خپله کولو سره حانث کیږي او په وکیل سره په کولو نه حانث کیږي او دکومو عقودو حقوق چې عقد کونکي مباشر ته راجع نه وي بلکه دچالپاره چې عقد کیږي هغه ته راجع وي لکه نکاح ،طلاق ،عتاق وغیره دهغو په خپله کولو سره هم حانث کیږي او په وکیل په کولو سره هم حانث کیږي.

(۲)او هغه امور چې دهغوئ په خپله کولو سره هم حانث کیږي او په وکیل سره په کولو هم حانث کیږي دادي ،نکاح کول، طلاق ورکول،خلع کول ،ازدول ،مکاتب جوړول ،له قتل عمد څخه صلح کول ، هبه کول ،صدقه کول ،قرض ورکول ،قرض اخیستل ،غلام وهل ،ذبح کول ،مکان جوړول ،جامه ګنډل ، خپل شئ له بل سره په امانت ایښودل ،دبل شئ له خپل ځان سره امانت ایښودل ،خپل شئ چاته عاریة ورکول ،دبل شئ اعارة اخیستل ،قرض اداء کول ،خپل قرض وصول کول ،کوم شئ په سورلی باندي بارول ،مثلاً وي ویل والله زه به نکاح ونه کړم بیاده خپله نکاح وکړه یادده وکیل دده نکاح وکړه نو په دواړو صورتونو کې حانث کیږي ولی چې ددي امورو حقوق دآمر طرف ته راجع کیږي وکیل سفیر محض دی لهذا که داکار په خپله وکړي او که یې په وکیل وکړي دواړه برابر دي.

(٣) وَدُخُولُ اللَّامِ عَلَى الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ وَالْإِجَارَةِ وَالصِّيَاغَةِ وَالْخِيَاطَةِ وَالْبِنَاءِ كَأَنْ بِعْتُ لَكَ ثَوْبًا لِاخْتِصَاصِ الْفِعْلِ بِالْمَحْلُوفِ عَلَيْهِ بِأَنْ كَانَ بِأَمْرِهِ كَانَ مِلْكَهُ أَوْ لَا (٤) وَعَلَى الدُّخُولِ وَالضَّرْبِ وَالْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَالْعَيْنِ كَأَنْ بِعْتُ ثَوْبًا لَكَ لِاخْتِصَاصِهَا بِهِ بِأَنْ كَانَ مِلْكَهُ أَمَرَهُ أَوْ لَا (٥) فَإِنْ نَوَى غَيْرَهُ صُدِّقَ فِيمَا عَلَيْهِ

ترجمه: او دلام داخليدل په بيع او شراء او اجاره او رضاعت او خياطت او بناء باندي لكه چې داسې ووايې چې كه ما خرڅه كړه ستا لپاره ستا جامه د اختصاص فعل بالمحلوف عليه لپاره وي په دي معنى چې هغه دده په امر سره شوى وي خواه كه دده ملك وي او كه نه وي، او په دخول او ضرب او اكل او شرب او عين شئ باندي لكه چې داسې ووايې چې كه زه خرڅه كړم ستا د اجامه د اختصاص شئ بالمحلوف عليه لپاره وي په دي معنى چې دا به دده ملك وي خواه كه يې امر كړى وي يا نه وي، او كه له دي څخه دعلاوه نيت يې كړى وي نو تصديق به كيږي په هغه كې چې په هغه كې دده تاوان وي.

تشريح: (٣) په عربى ژبه كې دلفظ بيع، شراء، اجاره، صناعة، خياطة او بناء په صله كې دلام راتلل ددي لپاره وي چې دا فعل په محلوف عليه پوري خاص دى يعني چې هغه دده په اجازت سره شوى وي خواه محلوف عليه دهغه مالك وي يا نه وي مثلا حالف داسې وويل ان بعت لك ثوبا فعبدى حر (كه ما ستا لپاره جامه خرڅه كړم نو زما غلام ازاددى) نو ددي مطلب دادى چې زه يې ستا په اجازت سره خرڅه كړم نو زما غلام ازاددى نو كه ده د مخاطب په اجازه خرڅه كړه نو غلام ازاديږي كه نه نو نه ازاديږي بيا عامه ده چې جامه دده ملك وي يا نه وي. همدا شان په شراء وغيره كې دى مثلا وي ويل ان اشتريت لك ثوبا فعبدى حر اى ان اشتريت بامرك ثوبا فعبدى حر (كه ما ستا لپاره جامه واخلم نو زما غلام ازاددى) يا ووايې اجرت لك دارا فعبدى حر (كه ما ستا لپاره مكان پر كرايه وركړم نو زما غلام ازاددى) يا ووايې ان صنعت لك خاتما فعبدى حر (كه ما ستا لپاره ګوتمې جوړه كړه نو زما غلام ازاددى) يا يې وويل ان خطت لك ثوبا فعبدى حر (كه ما ستا لپاره جامه وګنډله نو زما غلام ازاددى) يا يې وويل ان بنيت لك دارا فعبدى حر (كه ما ستا لپاره مكان جوړ كړ نو زما غلام ازاددى).

(٤) او كه دلفظ دخول، ضرب اكل، شرب يا د كوم شئ يعني ذات مشخص مثلا ثوب وغيره په صله كې لام راغى نو دا لام ددي خبري ديپانولو لپاره وي چې دا شئ (يعني محلوف به) ددي كس (يعني محلوف عليه) ملك وي بيا خواه كه هغه اجازه وركړي يا يې ورنه كړي مثلا داسې يې وويل ان دخلت لك دارا فعبدى حر (كه زه ستا مكان ته داخل شوم نو زما غلام ازاددى) نو په دي وخت كې شرط دادى چې داريه د محلوف عليه كس ملك وي نو اوس كه حالف دده كورته داخل شي نو دده غلام ازاديږي خواه كه مالك د دخول اجازه وركړي او كه اجازه ورنه كړي او كه داردده په ملك كې نه وي نو د حالف غلام نه ازاديږي، همدا شان ضرب وغيره دي مثلا وي ويل ان ضربت لك عبدا فعبدى حر (كه ما ستا غلام وواهه نو زما غلام ازاددى) يا يې وويل ان اكلت طعاما لك فعبدى حر (كه ما ستا خوراك وخوري نو زما غلام ازاددى) يا يې وويل ان بعت ثوبا لك فعبدى حر (كه ما ستا جامه خرڅه كړه نو زما غلام ازاددى).

(٥) او كه متكلم په مذكوره بالا دوارو صورتونو كې له قاعدي څخه مخالف نيت وكړ نو په كوم صورت كې دده نقصان وي په هغه كې خو به ديانة او قضاء په دواړو اعتبارونو سره دده تصديق كيږي او په كوم صورت كې چې دده فائده وي په هغه صورت كې به صرف ديانة دده تصديق كيږي نه قضاء، لكه له فعل

ځخه وروسته چې لام ذكركړي او نيت له عين ځخه وروسته دلام دذكركولو وكړي مثلاً ووايي ان اشتريت لك ثوباً فعبدي حر(چې په دي وخت كې قاعده داده چې دافعل به په محلوف عليه پوري خاص وي يعني د ده په اجازه به وي خواه كه دده ملك وي او كه نه وي)او ده نيت دان اشتريت ثوباً لك فعبدي حر(چې په دي وخت كې قاعده داده چې دالام دابيانوي چې داشئ به ددي كس ملك وي خواه كه هغه اجازه وركړي او كه يا)وكړي اوس ده دمحلوف عليه له اجازت ځخه بغيرد ده جامه خرڅه كړه نوځرنګه چې په دي صورت كې ددي غلام ازاديږي او په دي كې دده نقصان هم دى لهذا ده ده تصديق به كيږي .

(٦)إِنْ بِعْتُهُ أَوِ ابْتَعْتُهُ فَهُوَ حُرٌّ لَعَقَدَ بِالْخِيَارِ حَنِثَ (٧) وَكَذَا بِالْفَاسِدِ وَالْمَوْقُوفِ لَا بِالْبَاطِلِ (٨) إِنْ لَمْ أَبِعْ فَكَذَا فَأَعْتَقَ أَوْ دَبَّرَ حَنِثَ (٩) قَالَتْ تَزَوَّجْتَ عَلَيَّ فَقَالَ كُلُّ امْرَأَةٍ لِي طَالِقٌ طَلُقَتِ الْمُحَلِّفَةُ

ترجمه:كه ماداخرڅ كړياواخيستى نوهغه ازاددى بيايې له خيارسره عقدوكړنو حانث كيږي ،همداشان په بيع فاسداوموقوف سره دى نه په باطل سره ،كه زه خرڅ نه كړم نوداسې ده بيايې ازادكړيايې مدبر كړنو حانث كيږي ،ښځې وويل تاپرمانكاح كړي ده خاوندوويل زماهره ښځه طلاقه ده نودقسم وركونكې طلاق هم واقع كيږي .

تشريح :(۶)كه چادخپل غلام په باره كې وويل ان بعته فهوحر(كه مادى خرڅ كړنودى ازاددى)بيايې دځان لپاره ددريوورځوداختيارپه شرط سره غلام خرڅ كړنوغلام ازاديږي ولى چې شرط ازادي يعنى خرڅول موجودشو اودوجود شرط په وخت كې دده ملك هم قائم دى ولى چې دامام صاحب په نزددبائع دخيارشرط په صورت كې مبيع دبائع له ملک ځخه نه وځي ،همداشان كه يې دبل دغلام په باره كې وويل ان ابتعته فهوحر(كه مادى واخيستى نودى ازاددى)بياده خپل ځان لره ددريوورځوپه اختيارسره غلام واخيستى نوهم غلام ازاديږي ولى چې دلته هم شرط ازادي يعنى اخيستل متحقق شو لهذا غلام ازاديږي.

(٧)قوله وكذابالفاسدوالموقوف اى وكذايحنث بالفاسدمن البيع والشراء ويحنث بالموقوف منهماولايحنث بالباطل ،يعنى مذكوره بالاحكم دبيع فاسدي هم دى مثلاچاوويل ان بعتک فانت حر،بيايې په بيع فاسدسره خرڅ كړنوازاديږي ولى چې شرط موجودشوپه دي وجه چې بيع فاسده هم شرعاًبيع ده په كومه سره چې بعض احكام ثابتيږي ،اوهمداحكم دبيع موقوف هم دى مثلاً حالف وويل كه زه خپل داغلام په فلان غائب خرڅ كړم نودى ازاددى ،بياده پرهغه غائب كس غلام خرڅ كړاو كوم اجنبى دهغه له طرفه قبول كړنوغلام ازاديږي ولى چې شرط موجودشوپه دي وجه چې دابيع كه څه هم دغائب په قبلولوپوري موقوفه ده ليكن ځرنګه چې بيع موقوفه په هرحال بيع ده لهذاغلام ازاديږي البته دبيع باطلې حكم دانه دى ولى چې بيع باطله نه حقيقةًبيع ده اونه حكماًبيع ده ځكه چې په دي سره دبيع هيڅ حكم نه ثابتيږي .

(٨)كه چاداسې وويل چې كه ماداغلام خرڅ نه كړنوزماښځه طلاقه ده بياده خپل دغه غلام ازادكړيايې مدبر كړنوحالف حانث كيږي يعنى دده پرښځه طلاق واقع كيږي ولى چې شرط طلاق (يعنى دغلام نه خرڅول)موجودشوولى چې دغلام له ازادي ياتدبيرځخه وروسته غلام دبيع محل پاتې نه شو .

(٩)كه كومې ښځې خپل خاوندته وويل ،تاپرمافلانۍ ښځه په نكاح كړي ده خاوندپه ځواب كې وويل كومه چې هم زماښځه وي هغه طلاقه ده ،نودخاوندپه دي ويناسره دده پردي ښځه هم طلاق واقع كيږي

كومې چې ده ته ويلې ووچې تاپرمافلانۍ ښځه په نكاح كړي ده اوكه كومه بله ښځه يې هم وي نوهغه هم طلاقيږي ولې چې دخاوند قول كومه چې هم زما ښځه وي ،عام دى دده ټولو ښځوته شامل دى .

(۱۰)عَلَيَّ الْمَشْيُ إِلَى بَيْتِ اللهِ تَعَالَى أَوْ إِلَى الْكَعْبَةِ حَجٌّ أَوِ اعْتَمَرَ مَاشِيًا (۱۱) فَإِنْ رَكِبَ أَرَاقَ دَمًا (۱۲) بِخِلَافِ الْخُرُوجِ أَوِ الذَّهَابِ إِلَى بَيْتِ اللهِ تَعَالَى أَوِ الْمَشْيِ إِلَى الْحَرَمِ أَوِ الصَّفَا أَوِ الْمَرْوَةِ

ترجمه:(كه چاوويل)پرماپه پښوتګ دى دبيت الله ياكعبة الله طرف ته نوپياده دې حج وكړي ياعمره ، نوكه سورشونودم دې ذبح كړي ،په خلاف دبيت الله طرف ته دوتلو يا دتللو يادحرم ياصفاا ومروه طرف ته دپياده تللو .

تشريح :(۱۰)كه چاداسې وويل چې پرمابيت الله ته ياكعبة الله ته پياده تلل دي ،نوهغه دې پياده ولاړشي حج دې وكړي يادې عمره وكړي ولې چې په دې الفاظوسره التزام احرام متعارف دى كه څه هم دقياس تقاضاداده چې پرده دې هيڅ شئ لازم نه شې ولې چې ده دتللو التزام كړي دى اوتلل مقصودي عبادت نه دى مګرداستحسان په وجه قياس متروك دى .

(۱۱)اوس كه ده په سورلى باندې سورحج وكړنوپسه دې ذبح كړي ولې چې دحضرت عقبه عامر ﷺ خورپياده بيت الله ته دتللو نذرمنلې ووبيا له پياده تللو څخه عاجزه شوه نونبى كريم ﷺ ددې په باره كې وفرمايل چې په سورلى دې ولاړه شې بيادې يوپسه ذبح كړي ،همداراز څرنګه چې ده افضل واجب ناقص اداء كړولى چې پياده حج كول افضل دى لهذادنقصان جبيره په دم سره كول لازم دي .

(۱۲)قوله بخلاف الخروج اوالذهاب الى بيت الله اى لوقال على الخروج اوالذهاب الى بيت الله فلاشئ عليه ،يعنى كه چاداسې وويل چې تربيت الله پورې سفركول ياتلل زماپرذمه دي نوده پرذمه هيڅ واجب نه دي ولې چې په عرف كې په دې الفاظو ويلوسره حج ته تلل نه مراديږي اودقسم دارومدارپه عرف دى ،همداشان كه ده وويل چې ترحرم پورې ياصفااومروه پورې په پښوتلل زماپرذمه دي نوپه دې ويلوسره هم پرده هيڅ نه لازميږي ولې چې په دې الفاظوسره التزام احرام متعارف نه دي .

(۱۳)عَبْدُهُ حُرٌّ إِنْ لَمْ يَحُجَّ الْعَامَ فَشَهِدَا بِنَحْرِهِ بِالْكُوفَةِ لَمْ يَعْتِقِ الْعَبْدُ (۱۴) وَحَنِثَ فِي لَا يَصُومُ بِصَوْمِ سَاعَةٍ بِنِيَّةٍ وَفِي صَوْمًا أَوْ يَوْمًا بِيَوْمٍ (۱۵) وَفِي لَا يُصَلِّي بِرَكْعَةٍ وَفِي صَلَاةً بِشَفْعٍ

ترجمه :(كه چاوويل)زماغلام ازاددي كه حج ونه كړم په دې كال نودووګواهانوګواهى وركړه دده په كوفه كې پرقربانۍ باندې نونه ازاديږي ،اوحانث كيږي په دې وينا سره چې روژه به نه نيسم په روژه نيولوسره يوګړى سره له نيته اوديوې روژې يايوې ورځې دروژې دقسم په اخيستلوكې په پوره ورځ روژه نيولوسره ،اوپه دې وينا كې چې لمونزبه نه كوم په يوه ركعت اداء كولوسره اوپه لايصلى صلوة ويلوكې په دوه ركعته لمانځه سره .

تشريح :(۱۳)كه چاداسې وويل كه ماپه دې كال كې حج ونه كړنوزماغلام ازاددى ،بيا ده دحج كولودعوه وكړه مګردووكسانوګواهي وركړه چې ده خوپه دې كال په كوفه كې قرباني وكړه نودشيخينو په نزد په دګواهانودې ګواهى اعتبارنه كيږي اوغلام نه ازاديږي ولې چې داپه حقيقت كې پرنفي (نفي حج)باندې ګواهي ده اوپرنفي ګواهي معتبره نه ده ،دامام محمد ﷫ په نزددګواهانوګواهي معتبره ده ولې چې

ګواهانوپرامرمعلوم (یعنی په کوفه کې په قربانۍ کولو)ګواهۍ ورکړي ده کومې لره چې نفی حج لازمه ده نوشرط موجود شولهذا غلام ازادیږي.

ف:دامام محمد رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المختار:(لایعتق عبدقیل له ان لم احج العام فانت حر).....(فشهدا بنحره ..بکوفةلم تقبل لقیامهاعلی نفی الحج ،الی ان قال ،وقال محمدیعتق ورجحه الکمال (الدر المختار:۳/۱۳۷)، کذاقال الشیخ عبدالحکیم الشهید:قال الکمال ابن الهمام فی فتح القدیر:ان قول محمدهو الاوجه (هامش الهدایة:۲/۴۸۱)

(۱۴)که چاداسې وویل چې زه به روژه ونه نیسم بیاده دروژې په نیت سره یوګړی روژه ونیوله نوحانث کیږي ولی چې شرط موجود شو په دې وجه چې روژه له مفطراتو څخه بقصدتقرب منع کیدلوته ویل کیږي اوداکارله ده څخه موجود شو لهذا حانث کیږي .اوکه ده داسې ویلي ووچې لایصوم صوما(زه به پوره روژه ونه نیسم)یایې وویل لایصوم یوما(زه به یوه ورځ روژه ونه نیسم)نوپه پوره ورځ روژه نیولو سره حانث کیږي ولی چې له صوما اویوما څخه کامل صوم شرعی مراددی او کامل صوم شرعی دیوې کاملې ورځې روژه ده لهذاله یوې ورځې څخه دکمې روژې دنیولو په صورت کې نه حانث کیږي.

(۱۵)قوله ولی لایصلی برکعة ای لوحلف لایصلی فصلی رکعة حنث ،یعنی که چاداسې وویل چې زه لمونځ نه کوم ،نوپه یوه رکعت لمونځ اداء کولوسره حانث کیږي ولی چې لمونځ له ارکان مختلفه څخه عبارت دی نوترڅوچې ټول ارکان اداء نه کړي هغه ته لمونځ نه ویل کیږي اوټول ارکان په یوه رکعت کې اداء کیږي په دوهم رکعت کې خوتکرارارکان دی لهذادیوه رکعت په اداء کولوسره حانث کیږي ،قوله ولی صلوة بشفع ای لوحلف لایصلی صلوة حنث برکعتین ،یعنی که یې داسې وویل چې لایصلی صلوة (زه به پوره لمونځ اداء نه کړم) نوپه دوه رکعته لمونځ اداء کولوسره حانث کیږي ولی چې له صلوة مطلق څخه کامل مراددی اوکامل لمونځ هغه دي کوم چې شرعاًمعتبروي اوشرعاًمعتبرلږترلږه دوه رکعته لمونځ دی ولی چې له یوه رکعت لمونځ اداء کولوڅخه منع راغلې ده.

(۱۶)اِنْ لَبِسْتُ من غَزْلِکِ فَهُوَ هَدْيٌ فَمَلَکَ قُطْنًا فَغَزَلَتْهُ وَنُسِجَ فَلَبِسَ فَهُوَ هَدْيٌ(۱۷)لُبْسُ خَاتَمِ ذَهَبٍ او عِقْدِ لُؤْلُؤٍ لُبْسُ حُلِيٍّ(۱۸) لَاخَاتَمِ فِضَّةٍ(۱۹)لَايَجْلِسُ علی الْأَرْضِ فَجَلَسَ علی بِسَاطٍ او حَصِيرٍ او لَايَنَامُ علی هذا الْفِرَاشِ فَجَعَلَ فَوْقَهُ فِرَاشًا آخَرَ فَنَامَ عليه او لَايَجْلِسُ علی سَرِيرٍ فَجَعَلَ فَوْقَهُ سَرِيرًا آخَرَ لَايَحْنَثُ(۲۰)وَلَوْ جَعَلَ علی الْفِرَاشِ قِرَامًا او علی السَّرِيرِ بِسَاطًا او حَصِيرًا حَنِثَ

ترجمه :که زه په تن کړم ستانیځې کړای شوي نوهغه هدی ده بیادی دوریو مالک شو بیابنځې هغه نیځې کړي بیایې وواودلې بیاده په تن کړه نوهغه به هدی وي ،دسروزو ګوتمې په ګوته کول یاد ملغلرو امیل په غاړه کول زیور(ګینه) په تن کول شماریږي ،نه دسپینوزور ګوتمې ،نه به کښیني پر ځمکه باندي بیاپرفرش یاپوزی باندې کښینستی یابه ویده کیږي پردې فرش بیاپرهغه بل فرش وغوړول شواوپرهغه ویده شویانه به کښیني پردې تخت بیاپرهغه بل تخت کښیښودل شو اوپه کښینستی نونه حانث کیږي ، اوکه یې وغوړاووپرفرش پلنګ پوش یاپرتخت فرش یاپوزی نوحانث کیږي.

تشریح :(۱۶)که چاخپلې ښځې ته وویل چې که ماستاپه لاس اوبدل شوي سوت جامه په تن کړه نوهغه هدی ده یعنی دمکې مکرمې پرفقراؤصدقه ده بیاخاوندوریه واخیستې ښځې هغه نیځې کړي اوله هغوڅخه یې جامه جوړه کړه اوس خاوندهغه په تن کړه نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددا جامه هدی ده ولی چې عادت

پردي جاري دی چې ښځه دخپل خاوندله وريوځخه نيځی. جوړوي اوپه قسم کې هغه مرادوي کوم چې معتاداومتعارف وي.

(۱۷)که چاقسم واخيست چې والله زه به زيور(ګينه)په تن نه کرم بيا ده دسروزرو ګوتمۍ پرګوته کړه يايې دملغلرواميل په غاړه کړنودازيورپه تن کول دي لهذاداکس حانث کيږي ولې چې دسرو زروګوتمۍ په ګوته

کول اودملغلرواميل په غاړه کول زيوردی له همدي وجه نارينه وته دسرو زرو ګوتمۍ حلاله نه ده.

(۱۸)قوله لاخاتم فضة اى لايكون لبسه لبس حلي فلايحنث ،يعنی که مذکوره بالاحالف دسپينوزروګوتمۍ په ګوته کړه نونه حانث کيږي ولې چې دسپينوزروګوتمۍ ته په عرف کې زيورنه ويل کيږي اوشرعاًهم زيورنه دي ولې چې زيورهغه دي کوم چې صرف دتزين په ډول استعماليږي حال داچې دسپينوزرو ګوتمۍ دتزين اوغيرتزين دواړولپاره استعماليږي همداوجه ده چې نارينه ولره ددي په ګوته کول اودمهرپه غرض سره استعمالول مباح دي.

(۱۹)که چاقسم واخيست چې والله زه به پرځمکه نه کښينم ،بياپردرۍ ياپوزي باندي کښينستی نونه حانث کيږي ولې چې پرفرش ياپوزي باندي کښينستونکې ته پرځمکه کښينستونکی نه ويل کيږي ،اوکه يې وويل والله زه به پردي بستره ويده نه شم بياپرهغه بستره بله بستره وغوړول شوه بياپرهغې ويده شونونه حانث کيږي ولې چې مثل شئ دشئ تابع نه وي لهذادويده کيدلونسبت اوس دثانې طرف ته دی داول طرف ته نه دی ، همداشان که چاقسم واخيست والله زه پرتخت نه کښينم بياپر تخت بل تخت کښيښودل شوبيادي پرهغه کښينستی نونه حانث کيږي ولې چې شئ دخپل مثل تابع نه وي نودناستې نسبت داول طرف ته نه دی بلکه ددوهم طرف ته دی.

(۲۰)که يې وويل والله زه به پردي بستره ويده نشم بياپرهغه بسترپه داسې حال کې ويده شوچې پرهغه څادرغوړيدلی وونوحانث کيږي ولې چې څادردبسترتابع دی لهذاده ته نائم علی الفراش ويل کيږي ،اوکه چاقسم واخيست چې والله زه به پردي تخت نه کښينم بياپرداسې تخت کښينستی پرکوم چې فرش ياپوزی وونوحانث کيږي ولې چې ده ته په عرف کې جالس علی السريرويل کيږي.

بَابُ الْيَمِيْنِ فِي الضَّرْبِ وَالْقَتْلِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ

دباب په وهلواوقتل اوغيره باندي دقسم اخيستلوپه بيان کې دی

وجه دمناسبت يې له دي ځخه وړاندي تيره شوي ده

(۱)إِنْ ضَرَبْتُكَ وَكَسَوْتُكَ وَكَلَّمْتُكَ وَدَخَلْتُ عَلَيْكَ فَعَبْدِي حُرٌّ تَقَيَّدَ بِالْحَيَاةِ (۲)بِخِلَافِ الْغُسْلِ وَالْحَمْلِ وَالْمَسِّ (۳)لَا يَضْرِبُ امْرَأَتَهُ فَمَدَّ شَعْرَهَا أَوْ خَنَقَهَا أَوْ عَضَّهَا حَنِثَ (۴)إِنْ لَمْ أَقْتُلْ فُلَانًا فَكَذَا وَهُوَ مَيِّتٌ إِنْ عَلِمَ بِهِ حَنِثَ (۵)وَإِلَّا لَا

ترجمه:که ماته ووهلې ،يا تاته جامې درپه تن کړې ،يا له تاسره خبري وکړې ،ياتاته راغلم نودا افعال په ژوندانه پوري مقيد کيږي ،په خلاف دغسل اوحمل اومس کولو ،نه به وهي خپله ښځه بيايې دهغې ويښتان

کش کړل یایې ترغاړي ونیوله یایې خوله په ولګوله نوحانث کیږي ،که مافلان قتل نه کړنو داسې ده حال داچې هغه مړشوی دی که ده ته دامعلومه وي نوحانث کیږي که نه نو نه حانث کیږي .

تشریح :(۱)که چاپه قسم اخیستلوسره چاته وویل که ماته ووهلې نوزماغلام ازاددی ،نوداقسم دمخاطب نرژوندپوري دی نوکه حالف هغه په ژوندکې وواهه نوحانث کیږي ولی چې شرط موجودشو اوکه یې له مرګه وروسته وواهه نونه حانث کیږي ولی وهل ددردورکونکې فعل نوم د ی اودردورکول په مړه کې نه متحقق کیږي ،همداشان که حالف وویل که ماتاته جامه درپه تن کړه نوزماغلام ازاددی ،نوکه یې په ژوندکې جامه ورکړه نوحانث کیږي ولی چې شرط موجودشواوکه یې له مرګه وروسته ده ته کفن ورکړنونه حانث کیږي ولی چې له مطلق جامې ورکولوڅخه مرادتملیک دی اومړی دتملیک قابل نه دی ،همداشان که حالف وویل که ماله تاسره خبري وکړي نوزماغلام ازاددی ،نوکه حالف دمخاطب په ژوندکې له ده سره خبري وکړي نوحانث کیږي ولی چې شرط موجودشواوکه یې له مرګه وروسته خبري ورسره وکړي نونه حانث کیږي ولی چې له کلام څخه مرادافهام دی اومرګ له افهام سره منافي دی ، همداشان که حالف وویل که زه تاته راغلم نوزماغلام ازاددی نوکه په ژوندکې ورغی نوحانث کیږي ولی چې شرط موجودشواوکه له مرګه وروسته یې دقبرزیارت وکړنو دشرط دنه وجودپه وجه نه حانث کیږي ولی چې له مرګه وروسته دقبرزیارت کیږي دده زیارت نه کیږي .

(۲)اوکه حالف وویل که ماتاته غسل درکړنوزماغلام ازاددی بیایې دده له مرګه وروسته ده ته غسل ورکړنوحانث کیږي ولی چې دغسل معنی ده داوبوپه تویولوسره پاکول اودامعنی په مړه کې هم موجوده ده ،همداشان که یې وویل که ماته اوچت کړي نوزماغلام ازاددی ،نوکه له مرګه وروسته یې دی اوچت کړنوهم حانث کیږي ولی چې اوچتول له مرګه وروسته هم متحقق کیږي ،همداشان که یې وویل که ماتاته لاس دروړنوزماغلام ازاددی بیایې له مرګه وروسته ده ته لاس ورووړی نوهم حانث کیږي ولی چې لاس وروړل کله دتعظیم اوشفقت لپاره وي نوداله مرګه وروسته هم متحقق کیږي په دې وجه له مرګه وروسته هم حانث کیږي .

ف:په دې باره کې قاعده داده کوم امورچې له ژوندسره خاص وي هغه که حالف له ژوندی سره وکړي نوحانث کیږي مګرله مړی سره په کولویې نه حانث کیږي لکه ضرب وغیره اوکوم امورچې په ژوندپوري خاص نه وي هغه که حالف له ژوندي سره وکړي نوهم حانث کیږي اوکه یې له مړی سره وکړي نوهم حانث کیږي مثلاً غسل ،اوچتول وغیره .

(۳)که چاداسې قسم واخیست چې والله زه به خپله ښځه ونه وهم بیایې دهغې ویښتان کش کړیایې ترغاړه ونیوله یایې خوله پرولګوله نوحانث کیږي ولی چې وهل ددردورکونکې فعل نوم دی اودردورکول په دې دریوواړه صورتونوکې موجوددی لهذاحالف حانث کیږي .

(۴)که چاداسې قسم واخیست چې که مافلانکی کس قتل نه کړنوزماښځه طلاقه ده ،حال داچې هغه کس مړشوی دی اوحالف هم دهغه په مرګ خبردی نوطلاق واقع کیږي ولی چې یمین منعقد شوپه دې

وجه چې الله تعالی په اعاده قادر دی مګر څرنګه چې عادة دهغه یمین له پوره کولو څخه حالف عاجزدی لهذا اسمان ته دختلو دقسم اخیستلو په څیر فی الحال حانث کیږي .

(۵) قوله والالای وان لم یعلم بموته لایحنث ،یعني که حالف دمذکوره کس په مرګ خبرنه وونو نه حانث کیږي ولی چې ده یمین دده پرداسې ژوند منعقد کړی دی کوم چې په ده کې موجود دی حال داچې هغه موجود نه دی نو څرنګه چې ددي قسم پوره کول متصور نه دی لهذا قسم منعقد نه شو په دي وجه حالف نه حانث کیږي .دامام ابویوسف رحمه الله په نزد حانث کیږي ولی چې دده په نزد دتکمیل یمین تصور دانعقاد یمین لپاره شرط نه دی .

(٦) وماذون الشهر قریب (٧) وهو وما فوقه بعید (٨) لیقضین دینه الیوم فقضاه زیوفا او نبهرجة او مستحقة بر (٩) ولو رصاصا او ستوقة لا (١٠) والبیع به قضاء (١١) لا الهبة

ترجمه :له یوي میاشتې څخه کم قریب دی ،اویوه میاشت له دي څخه زیات بعید دی ،ضرور به دده قرضه نن اداء کوي بیا ده اداء کړي داسې چې کومې چې کوټه وي یانبهرجه وي یادبل چاوي نو له قسم څخه بری کیږي ،اوکه رانګ وي یاستوقه وي نو نه بری کیږي ،اوددي په عوض خرڅول اداء ده ،نه هبه کول .

تشریح :(۶) له یوي میاشتې څخه کم وخت قریب دی نو که چاقسم واخیست چې والله زه به دفلان قرضه عنقریب اداء کړم نو له دي څخه مراد له یوي میاشتې څخه لږ وخت دی ولی چې له یوې میاشتې څخه لږ وخت ته په عرف کې قریب ویل کیږي نو که ده له یوي میاشتې څخه په لږ وخت کې اداء کړ نو بري کیږي که نه نو حانث کیږي .

(۷) او پوره یوه میاشت او له دي څخه زیات وخت بعید دی نو که یې وویل چې والله زه به په مدت بعید کې دفلان قرضه اداء کړم نو له دي څخه یوه میاشت یا له یوي میاشتې څخه زیات وخت مراد دی ولی چې میاشتې او له دي څخه زیات وخت ته په عرف کې مدت بعید ویل کیږي .

(۸) که چاقسم واخیست چې والله زه به دفلان قرضه نن اداء کړم بیا ده نن اداء کړي مګر قرضخواه ته یې دراهم زیوف (زیوف هغه دراهم دي کوم چې تجارخو قبولي مګر بیت المال یې نه اخلي) یانبهرجه (نبهرجه هغه دراهم دي کوم چې نه بیت المال او نه تجار قبولوي مګر داچې څوک یې په تساهل کولو سره واخلي)اداء کړل یا کوم دراهم چې ده اداء کړل دهغو کوم بل کس مستحق بنکاره شو نو حالف نه حانث کیږي ولی چې شرط موجود شو په دي وجه چې زیوف او نبهرجه ددراهمو له جنس څخه دي بی شکه عیب داردي مګر دعیب په وجه جنس نه معدومیږي .اودمستحق دبنکاره کیدلو په صورت کې دقرضخواه په دراهمو قبضه کول صحیح ده اودحالف قسم له یو ځل پوره کیدلو څخه وروسته دراهم مستحق ته په واپس کولو سره دقسم پوره والی نه ردیږي .

(۹) قوله ولو رصاصا او ستوقة لا ای لو قضاه رصاصا او ستوقة لایبر فی یمینه ،یعني که یې په مذکوره بالاصورت کې قرضخواه ته رصاص دراهم (سرپ) اداء کړل یاستوقه دراهم (کوټه درهم په کوم چې دسپینو زرو ملمع وي)اداء کړل نو حالف حانث کیږي ولی چې رصاص او ستوقه ددراهمو له جنس څخه نه دي .

(۱۰)كه په مذكوره بالاصورت كې حالف دقرض په عوض پرقرضخواه باندي كوم شئ خرڅ كړنو دادقرض اداء كولو په حكم كې ده لهذا په دي قسم پوره كيږي ولي چې دقرض داداء كولو يو طريقه دا هم ده چې په خپل منځ كې مقاصه سره وكړي يعني باهمي تبادله وكړي او دا خبره په بيع كې متحققه شوه.

(۱۱)قوله لاالهبة اى ليس هبة الدين لقضاء للدين ،يعني كه حالف ته قرضخواه خپل قرض هبه كړنو دادقرض اداء كولو په حكم كې نه ده لهذا ددى قسم پوره نه شو ولي چې قرض اداء كول دمقروض فعل دى او هبه كول دقرضخواه له طرف څخه قرض ساقطول دي لهذا حالف حانث كيږي.

(۱۲)لايقبض دَيْنَهُ دِرْهَمًا دُونَ دِرْهَمٍ فَقَبَضَ بَعْضَهُ لايَحْنَثُ حتى يَقْبِضَ كُلَّهُ مُتَفَرِّقًا(۱۳)لا بِتَفرِيقٍ ضَرُورِيٍّ(۱۴)إن كان لي إلّا مائةٌ او غير او سوى فكذا لم يحنث بملكها او بعضها

ترجمه :قبض به نه كړم خپل قرض يو يو درهم بيايې بعض قبض كړنو نه حانث كيږي ترڅو چې قبض كړي ټول قرض په متفرق ډول ،ماسوا له تفريق ضروري څخه ،كه زماسره مال وي مگر سل يا غير له سلو يا ماسوا له سلو نو دا سې دى نو نه نه حانث كيږي دسلو يا دهغه دبعضو په ملكيت سره ،.

تشريح :(۱۲)كه چا قسم واخيست چې والله زه به قرض په دي ډول قبض نه كړم چې بعض قبض كړم او بعض قبض نه كړم (يعني خپل قرض به متفرق وصول نه كړم)بيا ده بعض قرض قبض كړنو نه حانث كيږي ترڅو چې ټول قرض پر متفرق ډول قبض نه كړي ولي چې دحنث شرط دادى چې ټول قرض په وصف تفريق سره قبض كړي.

(۱۳)قوله لا بتفريق ضرورى اى لايحنث اذا قبضه متفرقا بتفريق ضرورى.يعني په ضروري تفريق سره حالف نه حانث كيږي مثلاً كه ده په مذكوره بالاصورت كې خپل قرض په دوه ځله ټول كولو سره وصول كړاو دواړو ټولو نو په منځ كې په كوم بل كار مشغول نه شو صرف په عمل ټول مشغول وو نو دټول په وجه چې په وصولولو كې كوم تفريق راغلى دى دهغه اعتبار نشته ولي چې كله كله دټول قرض په يو ځل وصول كول عادة محال وي نو دو مره تفريق مستثنى دى لهذا ددي په وجه حالف نه حانث كيږي.

(۱۴)كه چا داسې قسم واخيست چې كه زما سره مال وي مگر سل روپۍ ،يا له سلو روپو څخه علاوه ،يا له سلو روپو څخه ماسوا نو زما ښځه طلاقه ده نو كه دده په ملك كې سل روپۍ وي يا بعض يعني له سلو څخه لږ نو نه حانث كيږي ولي چې په عرف كې ددي كلام مطلب دا فهميږي چې له ده سره تر سلو روپو زياتي نشته لهذا تر سلو روپو پوري نه حانث كيږي هو كه له سلو څخه زياتې وي نو حانث كيږي ولي چې او س شرط حنث موجود شو.

(۱۵)لايفعل كذا تَرَكَهُ أبدًا لَيَفْعَلَنَّهُ بَرَّ بِمَرَّةٍ(۱۶)وَلَوْ حَلَّفَهُ وَالٍ لَيُعْلِمَنَّهُ بِكُلِّ دَاعِرٍ دخل البلدَ تَقَيَّدَ بِقِيَامِ وِلايَتِه(۱۷)بَرَّ بالهبة بلا قبول بخلاف البيع(۱۸)لايشمّ ريحانا لايحنث بِشَمِّ وَرْدٍ وَيَاسَمِينٍ(۱۹)البَنَفْسَجُ والوَرْدُ على الوَرَقِ

ترجمه :دا كار به نه كوي نو دهميشه لپاره به يې پريږدي ،دا كار به ضرور كوي نو بري كيږي په يو ځل كولو سره او كه حاكم قسم وركړ چې ضرور به مې خبروي په هر داسې مفسد باندي كوم چې ښار ته داخليږي نو مقيد به وي دا قسم دده په حكومت پوري ،بري كيږي په هبه بلا قبول سره ،په خلاف دبيع ، ريحان به نه بويوي نو نه حانث كيږي دگلاب او چنبيلي په بويولو سره ،بنفشه او گلاب په پاڼو محمول دي.

تشريح :(۱۵)كه چاقسم واخيست چې والله لاافعل كذا(والله زه به فلانى كارونه كړم)نوداكاربه دهميشه لپاره پرېږدي ولى چې داقسم پرنفى واقع شوى دى اونفى په كومه زمانه پوري نه مختص كيږي لهذاداپه تابيدمحمول دى ،اوكه چاقسم واخيست چې والله لافعلن كذا(والله زه به فلانى كاروكوم)نوپه يوځل هغه كاركولوسره قسم پوره كيږي ولى چې مقصودايجادفعل دى كوم چې ده وكړ.

(۱۶)كه حاكم له چاڅخه قسم واخيست چې كوم مفسدكس چې ښارته داخليږي ته به دهغه اطلاع راكوي نوداقسم دحاكم دحكومت تربقاء پوري دى ولى چې دحاكم مقصودپه دي سره دمفسدينو دفسادفع كول دي اوداد حكومت په دوران كې وي له حكومت څخه وروسته ده لره دفساددفع ممكنه نه ده ،لهذاكه حاكم مړشويامعزول شونويمين ختميږي اوكه دوهم ځل حاكم جوړشونوقسم عودنه كوي .

(۱۷)كه چاداسې قسم واخيست چې زه به دافلانى شئ فلان ته هبه كوم بيا ده هبه كړنوچاته چې يې هبه كړى دى دهغه له قبلولوڅخه بغيرده قسم پوره كيږي ولى چې هبه تمليک بلاعوض ده لهذاصرف دواهب په عمل سره پوره كيږي ،پاتې شوه دموهوب له قبلول هغه حكم هبه يعنى دملک لپاره شرط دى اوشرط حنث هبه ده نه دهبې حكم ،اوكه يې دبيع په باره كې قسم واخيست چې والله زه به دافلانى شئ په فلان خرڅوم بيايې خرڅ كړ مگرمشترى تراوسه قبول كړى نه دى نودمشترى له قبوليت څخه وړاندي حالف نه حانث كيږي ولى چې بيع معاوضه ده اومعاوضه دجانبين دفعل تقاضاكوي صرف په يوه سره نه تاميږي .

(۱۸)كه چاداسې قسم واخيست چې والله زه به ريحان نه بويوم نودى دگلاب اوچنبيلې په بويولوسره نه حانث كيږيولى چې ريحان دهغه خوشبولرونكى وښونوم دى كوم چې تنه نه لري حال داچې په گلاب اوچنبيلې كې تنه وي ،همداراز خوشبوپه گلاب اوچنبيلې كې نه وي بلكه ددوئ په گلانوكې وي حال داچې ريحان په خپله خوشبوداردى،

(۱۹)اوكه چادگلاب اوبنفشه په بويولوقسم واخيست نوداقسم ددي دواړوگلانوپه پاڼودى ددوئ په عرق ياتيل وغيره باندي نه دى ولى چې له ورداوبنفشه څخه په عرف كې گل مراديږي اودايمانومدارپرعرف دى ،له بنفشه څخه دگل مراديدل داهل عراق عرف دى ،داهل كوفه په عرف كې له بنفشه څخه دده تيل مراددي.

(۲۰)حَلَفَ لَا يَتَزَوَّجُ فَزَوَّجَهُ فُضُولِيٌّ وَأَجَازَ بِالْقَوْلِ حَنِثَ وَبِالْفِعْلِ لَا (۲۱)وَدَارُهُ بِالْمِلْكِ وَالْإِجَارَةِ (۲۲)حَلَفَ بِأَنَّهُ لَا مَالَ لَهُ وَلَهُ دَيْنٌ عَلَى مُفْلِسٍ أَوْ مَلِيٍّ لَا يَحْنَثُ

ترجمه :قسم يې واخيست چې نكاح به نه كوي بياكوم فضولى ده نكاح وكړه اوده اجازه وركړه په ژبه سره نوحانث كيږي اوپه فعل سره نه حانث كيږي ،اودمكان اعتبارپه ملک اواجاره سره دى ،قسم يې واخيست چې زه مال نه لرم حال داچې دده قرض شته پرمفلس ياپرمال متمول كونكې باندي نونه حانث كيږي.

تشريح :(۲۰)كه چاوويل والله زه به نكاح ونه كړم بياكوم فضولى دده نكاح وكړه اوده په ژبه سره اجازه وركړه مثلاً وې ويل دانكاح ماته منظوره ده نوحانث كيږي ولى چې انتهاء په ژبه سره اجازه وركول له ابتداء څخه ده لره وكيل جوړول دي نوپه حقيقت كې حالف فضولى وكيل جوړكړى دى اوپه باب نكاح كې دوكيل حيثيت محض دسفيراومعبردى اوددي حقوق دموكل پرذمه دي نه دوكيل پرذمه نوگوياپه خپله موكل

مباشرت کړی دی په دي وجه حانث کيږي ،اوکه حالف په فعل سره اجازت ورکړ مثلاددي ښځې مهرېې ورکړيايي له دي سره صحبت وکړنو نه حانث کيږي ولی چې ده قسم پر تزوج اخيستی دی اومهرورکول ياصحبت کول تزوج نه دی.

(۲۱)ديو چاکورهغه دی دکوم چې دی مالک وي يايې په کرايه نيولی وي نوکه چا قسم واخيست چې والله زه به دفلانی کورته ورنه شم بيا حالف دفلانی مملوک کورته ورغی ياپه کرايه نيولی کورته ورغی نوحانث کيږي ولی چې په عرف کې له کور څخه مراد هغه داوسيدلو ځای دی خواه که دده ملک وي اوکه يې په کرايه نيولی وي.

(۲۲)که چاداسې قسم واخيست چې والله زماسره مال نشته حال داچې دکوم مفلس يامالدار ته مال متول کونکې (نه ورکونکې) پرذمه دده قرض شته نوداکس ددي قرض په وجه نه حانث کيږي ولی چې په عرف کې دين (قرض) ته مال نه ويل کيږي بلکه دا دمقروض پرذمه يو وصف دی.

كِتَابُ الْحُدُودِ

داکتاب دحدودو په بيان کې دی

حدود دحد جمع ده اوحد په لغة کې دمنع په معنی دی اوڅوکيدار ته حداد ځکه ويل کيږي چې هغه خلک له دخول څخه منع کوي ،دشريعت په اصطلاح کې حد يوي داسې متعينې سزاته ويل کيږي کومه چې دزجر لپاره دالله تعالی لپاره واجب شوي وي.

په حدودو او ايمانو کې مناسبت دادی چې څرنګه چې ايمان له عمل څخه مانع دي په دي شرط چې يمين پرنفی وي همداشان حدود هم له مجرمانه افعالو څخه مانع دي بيا حدود پردوه قسمه دي يو قسم هغه دي چې خالص دالله تعالی حق دي لکه حد زنا ،اوحد خمر ،اودوهم قسم هغه دي په کومه کې چې دبنده حق هم شامل وي لکه حد قذف ،مصنف رحمه الله اولنی قسم پيل کړ بيا څرنګه چې په حدودو کې ترټولو قوی حد زنادی په دي وجه مصنف رحمه الله دحد زنا بيان له ټولو څخه وړاندي ذکر کړ.

الحكمة :ان الله سبحانه وتعالى وان كان قدجعل لمن يرتكب الذنوب والآثام عقابايوم القيامة الاان ذالک لايمنع الناس عن ارتكاب مايضر بالمصلحة الخصوصية والعمومية في الحياة الدنيا وايضاان من الناس من له قوة وسلطان لايقدر المظلوم الضعيف على اخذ حقه منه وبذالک تضيع الحقوق ويعم الفساد من اجل ذالک وضعت الحدود وضعاشرعيا كافلا لراحة البشر في كل زمان ومكان حتى تمتنع الجرائم التي ترتكب وكل فعل يحدث في الارض فسادالايمكن اصلاح هذا الابالعقوبة.(حكمة التشريع)

(١)اَلْحَدُّ عُقُوبَةٌ مُقَدَّرَةٌ لِلّٰهِ تَعَالٰى (٢)وَالزِّنَا وَطْءٌ فِي قُبُلٍ خَالٍ عَنْ مِلْكٍ وَشُبْهَةٍ (٣)وَيَثْبُتُ بِشَهَادَةِ أَرْبَعَةٍ بِالزِّنَا (٤)لَا بِالْوَطْءِ وَالْجِمَاعِ (٥) فَيَسْأَلُهُمُ الْإِمَامُ عَنْ مَاهِيَّتِهِ وَكَيْفِيَّتِهِ وَمَكَانِهِ وَزَمَانِهِ وَالْمَزْنِيَّةِ (٦)فَإِنْ بَيَّنُوهُ وَقَالُوا رَأَيْنَاهُ وَطِئَهَا كَالْمِيلِ فِي الْمُكْحُلَةِ وَعُدِّلُوا سِرًّا وَجَهْرًا حَكَمَ بِهِ

ترجمه ،حد هغه سزاده کومه چې مقرره کړل شوي وي دالله تعالی لپاره ،اوناداسې وطی ده کومه چې په داسې شرمګاه کې وي چې له ملک اوشبه ملک څخه خالي وي ،دڅلوروکسانو په ګواهې سره ثابتيږي په لفظ زناسره ثابتيږي ،نه په لفظ دوطی اوجماع سره ،نوامام دي له دوئ څخه پوښتنه وکړي دماهيت زنااوکيفيت زنا په باره کې ،دمکان اوزمان اومزنيه په باره کې ،نوکه دوئ بيان کړي چې موږدی له مزنيه سره

په دې ډول وطی کولو ولیدی لکه سلائی په رنجلومه (سرمه دانی) کې او ددوئ تعدیل وشي خفیه او علانیه نو حاکم دې دزنا کیدلو حکم وکړي.

تشریح: (۱) مصنف رحمه الله دحد شرعی تعریف په دې ډول کړی دی چې حد په اصطلاح دشریعت کې هغه مقرره شوی سزا ده کومه چې خالص دالله تعالی دحق په ډول سره حاصلیږي، نو قصاص ته حد نه ویل کیږي ولې چې قصاص که څه هم عقوبت دی مګر داحق انسان دی هغه داساقطولی هم شي اودهغه عوض هم اخیستلی شي، همداشان تعزیرته هم حد نه ویل کیږي ولې چې په تعزیر کې سزامقدره او متعینه نه ده.

(۲) مصنف رحمه الله دمطلق زنا تعریف کړی دی چې زنا داسې وطی ته ویل کیږي کومه چې په داسې شرمګاه کې وي چې هغه له ملک او شبه ملک څخه خالي وي، پاتې شوه هغه زنا کومه چې موجب حد ده، هغه ده هغه وطی نوم دی کومه چې له مکلف څخه په خوښې دداسې مشتهاتې ښځې په شرمګاه کې وشي چې نه هغه ددې مکلف په ملک کې وي (یعنی نه هغه ښځه ددې واطی کوروالاوي او نه دده مینځه وي) او نه دملک شبه وي. دمکلف په قیدسره احتراز وشو دصبی او مجنون له وطی کولو څخه، اودمشتهات په قیدسره احتراز وشوله صغیري اومیتي اوځاروی سره له وطی کولو څخه، اوپه ملک سره له منکوحې او مینځې سره له وطی کولو احترازوشو، اوپه شبه ملک سره احترازوشو دخپل زوی له مینځې سره له وطی کولو څخه اودخپل ماذون غلام له مینځې سره له وطی کولو څخه، ولې چې په دوئ کې شبه ملک ده همدا وجه ده چې له دوئ سره وطی کول موجب حد نه دي.

(۳) زنا دڅلورو ګواهانو په ګواهې سره ثابتیږي لقوله تعالی ﴿ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ ﴾ (پرداسې ښځو له خپلو څخه څلور ګواهان طلب کړئ)، همدارازڅرنګه چې علم قطعی ته رسیدل محال دی په دې وجه په دلیل ظاهرسره اکتفاء کیږي، اودګواهې صورت دادی چې څلورازاداوعادل نارینه په یوه مجلس کې په کوم نارینه یا ښځې باندې دزنا ګواهي ورکړي.

(۴) قوله لابالوطی والجماع ای لایثبت الزنابالوطی والجماع، یعنی شرط دادی چې ګواه به دګواهې ورکولو په وخت کې په لفظ زنا ویلو سره ګواهې ورکوي ولې چې په دې حرام فعل باندې لفظ زنا صراحة دلالت کوي نو که ګواهانو داسې وویل چې فلان وطی وکړه یایې جماع وکړه نوپه دې سره زنانه ثابتیږي ولې چې لفظ وطی او جماع په فعل حرام کې صریح نه دي. په دې کې ا احتمال هم دی چې ده له دې اجنبی ښځې سره وطی او جماع فیمادون الفرج کړې وي.

(۵) بیا به له دې ګواهې څخه وروسته امام له ګواهانو پوښتنه وکړي چې زنا څه شئ ده؟ ولې چې له فعل زنا څخه په غیر باندې هم دزنا اطلاق کیږي لکه العینان تزنیان (سترګې زنا کوي) نو کیدای شي چې ګواه دې دسترګو زناته زنا ویلې وي. بیادې امام له ګواهانو څخه دکیفیت زنا په باره کې پوښتنه وکړي ولې چې صرف په تماس الفرجین باندې هم دزنا اطلاق کیږي نو کیدای شي چې ګواه پرتماس الفرجین باندې دزنا ګواهې ورکوي حال داچې پردې حد نشته. بیادې دمکان زنا په باره کې له ګواهانو پوښتنه وکړي ولې کیدای شي چې دازنا په دارالحرب کې شوې وي پر کومه چې حد نشته. اودا پوښتنه دې وکړي چې څه وخت

يې زناوكړه ؟ولې كيداى شي چې ده دي په قديم زمانه كې زنى كړي وي په كومه كې چې هم حدنشته . اوداسوال دي وكړي چې له كومې ښځې سره يې زناكړي ده ؟ولې كيداى شي چې ده دي دخپل زوى له مينځې سره زناكړي وي يادي له مشتركې مينځې سره زناكړي وي په كومه كې چې حدنشته .

(۶)نوكله چې ګواهان ددي ټولوسوالونوصحيح ځواب وركړي اوووايي چې موږداكس وليدى چې له دي ښځې سره يې په فرج كې وطى وكړه په دي دول لكه په سرمه دانۍ كې چې سلائي وي،نوقاضى دې دګواهانوظاهري اوباطنى حالت په باره كې تحقيق وكړي ،چې داګواهان عادل مقبول الشهادة دي اوكه نه دي ؟داددي لپاره ترڅوپه كومه وجه دحدددفع كولوصورت پيداشي ولې چې نبى كريم ﷺ فرمايي﴿ ادرؤا الحدود مااستطعتم ﴾ نوكه سرااوعلانية ددوئ عادل والى بيان شونوقاضى دي ددوئ په ګواهي سره دزنادثبوت حكم وكړي ولې چې اوس حقيقت بالكل ظاهرشو .

(۷)وبالإقرار وأربعاً في مجالسه الأربعة كلما أقر رده (۸)وسأله كما مر (۹)فإن بينه حد (۱۰)فإن رجع عن إقراره قبل الحد أو في وسطه خلي سبيله (۱۱)وندب تلقينه بلعلك قبلت أو لمست أو وطئت بشبهة

ترجمه :اونا(ثابتيږي)دزاني په څلورځله اقراركولوسره دزاني په څلورومجلسونوكې كله چې هم دى اقراروكړي حاكم دي ردكړي ،اوله ده څخه دي دزناوغيره اموروپه باره كې سوال وكړي لكه څرنګه چې تيرشو ،نوكه ده مذكوره اموربيان كړل نوحددي پرې جاري كړي ،بياكه هغه له خپل اقرارڅخه رجوع وكړي له حدڅخه وړاندي يادحدپه منځ كې نوحاكم دي دى پريږدي ،اومستحب ده زاني ته داتلقين كول چې شايدتامچه اخيستې وي ياتامس كړى وي ياتاپه شبه سره وطى كړي وي .

تشريح :(۷)قوله وبالاقرار اى يثبت الزنابالاقرار الزانى ،يعنى خپله دزاني په اقرارسره هم زناثابتيږي ولې چې اقرار پرمقرحجت دى .خاص كرهغه اقرارچې په هغه سره مقرته ضرر اوعارلاحق كيږي ،داقرارصورت داده چې عاقل بالغ پرخپل ځان باندي په څلورومجلسونوكې دزنى اقراروكړي هغه چې په اولنيودريو واړونوكې كله هم اقراروكړي نوهرځل دي قاضى ردكړي ولې چې نبى كريم ﷺ دحضرت ماعزاسلمى ﷺ دري ځله اقواررد فرمايلي ووپه څلورم ځل اقراركولويې حدجاري فرمايلي وو .

(۸)بياچې كله دده اقرارڅلورځله پوره شي نوقاضى دي له ده څخه دزنى په باره كې پوښتنه وكړي چې زناڅه ده اودكيفيت زناپه باره كې دي پوښتنه وكړي چې زنى څرنګه كيږي اوداسوال دي وكړي چې له كومې ښځې سره دي زناوكړه ،همداشان دزمان اومكان زناپه باره كې دپوښتنه وكړي لمامر .

(۹)بياچې كله هغه ددي ټولوسوالونوسم ځواب وركړي نوپرده دي حدجاري كړي ولې چې حجت پوره شو ،اوداشرط چې مقربه عاقل اوبالغ وي ځكه ولګول شوچې دصبى اومجنون اقرارمعتبرنه دى .اودخپل مجلس قيدځكه ولګول شوچې اقرارقائم بالمقردى په دي وجه دده مجلس معتبردى نه دقاضى مجلس .

(۱۰)دچازناچې دده په اقرارثابته وي هغه كه له اجراء حدڅخه وړاندي يادحدپه منځ كې له خپل اقرارڅخه رجوع وكړي نوهغه دي پريښودل شي ولې چې له اقرارڅخه رجوع كول هم يوخبردى په كوم كې

چې دربنتيا والى احتمال هم شته كمافى الاقرار او په رجوع كولوکې څوک دده تكذيب كونكى هم نشته لهذا په اقرار کې شبه پيدا شوه والحدود تندرئ بالشبهات (يعنى حدود د شبه په وجه سره دفع کيږي).

(۱۱) امام لره مستحب ده چې كوم څوک چې د زنى اقرار كوي هغه ته دي د رجوع عن الاقرار تلقين وكړي هغه ته دي داسې ووايې چې شايد تا له دي ښځې څخه صرف مچه اخيستې وي يا دي صرف مس كړې وي يا تا په شبه سره وطى كړې وي ولى چې نبى كريم ﷺ ماعز رضي الله عنه ته ويلې وو چې شايد تا د هغې څخه مچه اخيستې وي يا دي هغه مس كړې وي.

الحكمة: الزناجريمة الجرائم واصل المفاسد وهو من الكبائر والحكمة فى تحريمه من وجوه منها حفظ الانساب لانها اذا ضاعت لم تكن هناك شعوب وقبائل وبطون والفخاذ وعشائر فيفقد التعارف الذى اراده الله تعالى بقوله (ياايها الناس انا خلقناكم من ذكر وانثى وجعلناكم شعوبا وقبائل لتعارفوا ان اكرمكم عندالله اتقاكم) ومنها صيانة الاعراض من ان ينتهک فكم عرض انتهک فانزل العائلة من اعلا شرفات المجدالى اسفل دركات الضعة والاذلال وسوء السمعة ومنها الرحمة بالولدلان ولدالزنا اما ان يموت صغير الفقدمن يعتنى به لامتهانه واحتقاره واما ان يعيش فى حالة مرذولة ممقوتة لفقدالتربية وعدم الاب وربما صار سفاكاللدماء مخلابالامن العام واذاتعلم وربح الاموال فانه يعيش بين الناس ذليلا كاسف البال اذاافتخر الناس بالانساب والاحساب وشرف الابوة والعمومة والخولة ومادام الانسان كذالک فالحياة مريرة ومن اجل ذالک لايصفوالفكر ولاتتوجه النفس لاصلاح امرى الدنيا والدين (حكمة التشريع).

(۱۲) فَإِنْ كَانَ مُحْصَنًا رَجَمَهُ فِي فَضَاءٍ حَتَّى يَمُوتَ (۱۳) يَبْدَأُ الشُّهُودُ بِهِ فَإِنْ أَبَوْا سَقَطَ (۱۴) ثُمَّ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ وَيَبْدَأُ الْإِمَامُ لَوْ مُقِرًّا ثُمَّ النَّاسُ (۱۵) وَلَوْ غَيْرَ مُحْصَنٍ جَلَدَهُ مِائَةً وَنِصْفٌ لِلْعَبْدِ (۱۶) بِسَوْطٍ لَا ثَمَرَةَ لَهُ مُتَوَسِّطًا (۱۷) وَنَزَعَ ثِيَابَهُ وَفَرَّقَ عَلَى بَدَنِهِ إِلَّا رَأْسَهُ وَوَجْهَهُ وَفَرْجَهُ

ترجمه: نو كه هغه محصن وي نو هغه دي سنګسار كړي په خلاص ميدان کې تر څو چې مړ شي، او د رجم كولو ابتداء دي ګواه وكړي يا كه هغوى انكار وكړ نو حد ساقطيږي، بيا حاكم بيا نور خلک او حاكم دي شروع كړي كه زانې اقرار كونكى وي بيا خلک، او كه غير محصن وي نو سل دُرې دي ووهي او نيمايې دي كړي غلام لره، په داسې دُره چې په هغې کې غوټه نه وي په متوسط وهلو سره، او ودي ايستل شي د هغه جامې او دُرې دي د هغه په بدن متفرقې ووهل شي مګر په سر، مخ او شرمګاه دي نه وهي.

تشريح: (۱۲) كه زانې محصن وي (محصن هغه عاقل بالغ او ازاد مسلمان دى چې په نكاح صحيح سره يې وطى كړې وي) نو (وروسته له ثبوت زنا) حاكم دي دى د كوم خلاص ميدان طرف ته وباسي او په ډبرو دي سنګسار كړي تر څو چې مړ شي ولى چې نبى كريم ﷺ ماعز بن مالک اسلمى رضي الله عنه د حره يا بقيع طرف ته ايستلى او رجم كړى وو، او د نبى كريم ﷺ ارشاد دى لايحل دم امرء مسلم الاباحدمعان ثلاث كفر بعدالايمان وزنابعدالاحصان وقتل نفس بغير الحق.

(۱۳) يا كه د زانى زنا په ګواهانو سره ثابته وي نو تر ټولو وړاندې دي ګواهان دى په ډبرو وويلې ولى چې كله ګواه د دروغو په ګواهې جرأت كوي بيا ده لره د قتل په حالت کې په ليدلو سره دده د قتل په شان عظيم ګناه له ارتكاب څخه په ويره سره له ګواهې څخه راګرځي نو په ګواه سره په شروع كولو کې د دفع حد حيله را ووځي، او كه ګواه له ابتداء بالرجم څخه منع شول نو حد ساقطيږي ولى چې د دوئ منع كيدل د رجوع عن الشهادة دليل دى.

(۱۴) بيا د ګواهانو څخه وروسته كه امام حاضر وي نو هغه دي تعظيما په ډبرو وويلې، بيا عام خلک كوم چې د ګواهانو شهادت ليدلى دى يا قاضى هغوئ ته د رجم كولو اجازت وركړې وي. او كه د زانى زنا دده

په اقرارثابته شوي وي نوپردې دي ډبري وارول امام شروع کړي بيادي نورخلک ډبري وارکړي ولی چې غامديه ښځه نبی کريم ﷺ په خپله دنخودپه اندازه په ډبره سره ويشتلې وه اوغامديه ښځې په خپله دزنی اقرارکړی وو.

(۱۵)که دزانی زناپه څلورګواهانويادده په اقرارسره ثابته شې اوانی محصن نه وي اوازادوي نوده حدسل دُرې دی لقوله تعالی ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ (يعنی زانيه ښځې اوانی کس هريوه ته سل دُرې ورکړئ). اوکه زناکارکوم غلام يامينځه وي نودهغه حدپنځوس دُرې دی وجه يې داده چې رقيت لکه څرنګه چې دنعمت تنصيف کوي همداشان دعقوبت تنصيف هم کوي.

(۱۶)قوله بسوط لاثمرة له ای جلده بسوط لاعقدله ،يعنی بيادي امام په متوسط ضرب سره په داسې دُرې دزانی دوهلوحکم وکړي چې په هغې کې غوټه نه وي ولی مروی ده چې حضرت علی ؓ دحددوهلوپه وخت کې ددُرې غوټې پرې کولې ،اودمتوسط ضرب قيدځکه ولګول شوچې له ضرب شديدڅخه دهلاکت خطره ده ،اوپه انتهائي معمولي ضرب سره مقصود(انزجار)نه حاصليږي.

(۱۷)دحدجاري کولوپروخت دي دده جامې ماسواله ازارڅخه وکښل شې ولی چې حضرت علی ؓ به دحدودوجاري کولوپروخت دجامودايستلوحکم کاوه ولی چې له جامواېستلو څخه بغيردضرب اثرمضروب ته نه رسيږي .اوپرمتفرق اعضاء دي ووهې ولی چې په يوعضوپه وهلوکې دعضودضائع کېدلوخطره ده .البته په سر،مخ اوشرمګاه دي نه وهې ولی چې سرمجمع الحواس دی نودکوم حس دضائع کېدلوخطره ده اومخ مجمع المحاسن دی نودحسن دزائلېدلوخطره ده اوشرمګاه مقتل دی په کوم سره چې دانسان دتلف کېدلوخطره ده.

(۱۸)وَيُضْرَبُ الرَّجُلُ قَائِمًا فِي الْحُدُودِ وَغَيْرِ مَمْدُودٍ (۱۹)وَلَا يُنْزَعُ ثِيَابُهَا إِلَّا الْفَرْوَ وَالْحَشْوَ (۲۰)وَتُضْرَبُ جَالِسَةً وَيُحْفَرُ لَهَا فِي الرَّجْمِ لَا لَهُ (۲۱)وَلَا يَحُدُّ عَبْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِ إِمَامِهِ (۲۲)وَإِحْصَانُ الرَّجْمِ الْحُرِّيَّةُ وَالتَّكْلِيفُ وَالْإِسْلَامُ وَالْوَطْءُ بِنِكَاحٍ صَحِيحٍ وَهُمَا بِصِفَةِ الْإِحْصَانِ

ترجمه:اووهې دي نارينه په حدودوکې په ولاړه سره څملوي دي نه ،اونه دي ايستل کيږي دښځې جامې ماسواله پوستين اوورۍ لرونکی شئ څخه ،اوښځه دي وهې په ناسته سره اوغاردي وکيندل شې ښځې لره په رجم کې نه نارينه لره،اوحددي نه جاري کيږي په غلام مګردامام په اجازه ،اودرجم لپاره محصن والی ازادمکلف اومسلمان والی دی اوپه نکاح سره يې په دې دول وطی کړي وي په داسې حال کې چې دواړه په صفت احصان وي.

تشريح:(۱۸)يعنی په ټولوحدودوکې دي نارينه په ولاړه وهې لِقَوْلِ عَلِيٍّ رضي الله عنه يُضْرَبُ الرِّجَالُ فِي الْحُدُودِ قِيَامًا وَالنِّسَاءُ قُعُودًا(په حدودوکې دي نارينه په ولاړه سره وهل کيږي اوښځه په ناسته سره)،همدارازدحدجاري کولومبنی پرتشهيرده اوپرنارينه په ولاړه سره په حدجاري کولوکې تشهيرډيرزيات دی ،په ځکه دي نه څملوي ولی چې په دې کې په واجب حدباندي زيادت دی کوم چې جائزنه دی.

(۱۹)البته له ښځې دي جامې نه باسې له کشف عورت څخه دساتنې په خاطرهوپوستين .او پنډي (حشوله وريوڅخه جوړي شوي جامې ته ويل کيږي)جامې دي وباسې ولی چې دامضروب ته دضرب له اثرڅخه مانع دي اوسترعورت له دي څخه بغيرهم حاصل دی.

(۲۰)او د حد د جاري کولو پروخت دي ښځې کښينوي لماروينا ،همداراز په دي کې له بې پردګۍ څخه حفاظت هم دی. د رجم په صورت که د ښځې لپاره غار وکيندل شي نو جائز بلکه احسن دی ولی مروی ده چې په غامديه ښځې د حد جاري کولو پروخت دي لره غار کيندل شوی وو ،همداراز په دي کې د ښځې لپاره پرده پوشي ده ،مګر د نارينه لپاره دي غار نه کيندل کيږي ولی چې مبنی الحدود علی التشهير ده .

(۲۱)مولی پر غلام او مينځه حد نه شي جاري کولی مګر د امام په اجازه سره ولی چې حد جاري کول د الله تعالی حق دی لهذا د شريعت له طرف څخه مقرر شوي نائب ماسوا کوم بل چاته د حد د جاري کولو حق نشته .او امام او قائم مقام امام ځرنګه چې د شريعت له طرفه نائب دی په دي وجه ده ته د حد د قائمولو حق حاصل دی .

(۲۲)او د رجم لپاره د نارينه او ښځې دواړو محصن والی ضروري دی د محصن والی معنی داده چې انسان ازاد ، عاقل، بالغ،مسلمان وي ،چاچې له کومې ښځې سره په نکاح صحيح کولو سره وطی کړې وي په داسې حال کې چې دواړه په صفت احصان قائم وي،نو عاقل او بالغ والی خو د اهليت سزا شرطونه دي ولی چې له دي څخه بغير د باری تعالی خطاب نه متوجه کيږي او باقي امور ځکه شرط دي چې د کامل نعمت په وجه سره جرم هم کامل وي حال دا چې مذکوره امور له لويو نعمتونو څخه دي لهذا چاته چې مذکوره لوی نعمتونه حاصل وي د هغه سزا به کامله وي يعنی هغه به رجم کيږي. او د دواړو په صفت احصان سره د قائم والی مطلب دادی چې د دخول پروخت کوم يو نابالغ ،مجنون ،او کافر نه وي ولی چې په دي شيانو کې که يو موجود شو نو د رغبت د کم والی په وجه سره نعمت کامل نه دی .

(۲۳)وَلَايُجْمَعُ بَيْنَ جَلْدٍ وَرَجْمٍ (۲۴)وَجَلْدٍ وَنَفْيٍ وَلَوْ غَرَّبَ بِمَا يَرَى صَحَّ (۲۵)وَالْمَرِيضُ يُرْجَمُ وَلَا يُجْلَدُ حَتَّى يَبْرَأَ (۲۶)وَالْحَامِلُ لَا تُحَدُّ حَتَّى تَلِدَ وَتَخْرُجَ مِنْ نِفَاسِهَا لَوْ كَانَ حَدُّهَا الْجَلْدَ

ترجمه :او يو ځای والی دي نه کيږي په دُرو او رجم کې ،او نه په دُرو او جلاوطنی کې او که يې جلاوطن کړي د مصلحت په وجه نو صحيح دی ،او مريض دي رجم کړای شي او په دُرو دي نه وهل کيږي ترڅو چې روغ شي ،او پر حامله دي حد نه جاري کيږي ترڅو چې هغه ماشوم وزيږوي او له نفاس څخه ووځي که د دي حد دُري وي

تشريح :(۲۳)کوم زانی چې محصن وي پر هغه د حد د جاري کولو پروخت دي له رجم سره دُري وهل نه جمع کوي ولی چې نبی کريم ﷺ په حضرت ماعز ﷺ او غامديه ﷺ ښځه کې دواړه نه وو جمع کړي ، همداراز مقصود (د نورو لپاره زاجر والی)خو د زانی په رجم کولو سره حاصليږي ولی چې رجم اخيرنی درجه سزا ده په دي وجه دُري وهل بلافائده دي .

(۲۴)قوله وجلدونفی ای لايجمع بين جلدونفی فی البکر ،يعنی د بې واده زناکار په سزا کې دي له سلو دُرو سره يو کال جلاوطنې نه جمع کوي يعنی له سل دُرو وهلو څخه وروسته دي ديو کال لپاره بطور حد نه جلاوطن کوي ولی چې له ايت کريمه څخه ده لره صرف سل دُري ثابتې دي پر دي د جلاوطنې زياتول پر نص زيادت دی چې جائز نه دی ،البته د تعزير په ډول که د امام په رأيه کې په دي کې څه مصلحت وي نو ترڅو مره وخت پوري چې دی مصلحت وګڼي جلاوطن دي کړي ولی چې جلاوطنې په ځينو حالاتو کې مفيده وي .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزدجلا وطني دغيرمحصن دحدبرخه ده ولى په راويت كې راغلي دي چې نبي كريم فرمايلي دي دغيرمحصن حدسل دُري اويوكال جلاوطني ده ،مروى ده چې حضرت عمر رضي الله عنه يوداسې زاني ته دجلاوطني سزاوركړه هغه مرتدشواودارالحرب ته ولاړى حضرت عمر رضي الله عنه ته اطلاع ورسيدله نوده رضي الله عنه قسم واخيست چې بيابه هيچاته دجلا وطني سزاورنه كړم نوله دي څخه معلومه شوه چې داسزادبطورحدنه ده بلكه سياسة اوتعزيرا ده .

(۲۵)كه مريض زنى وكړه اودى محصن وي دزني په وجه پرده رجم واجب شوى وي نوده ته به ترروغتياپوري مهلت نه وركول كيږي بلكه رجم كيږي به ولى چې دده تلف والى لازم شوى دى نومرض مانع نه دى ،اوكه دازانى غيرمحصن وي پرده دزنى په وجه دُري لازمې شوي وي نوترڅوچې دى روغ نه شې په دُرودي نه وهل كيږي ترڅودمرض په وجه په دُرووهلوسره هلاک نه شي .

(۲۶)كه حامله ښځې زناوكړه نوترڅوچې ماشوم ونه زيږوي پردي به حدنه جاري كيږي خواه كه حدرجم وي اوكه دُري وي ترڅوددي ماشوم هلاک نه شي ولى چې ماشوم كه څه هم له زناڅخه ده مگر څرنگه چې دماشوم گناه نشته لهذاهغه دعامو انسانوپه څير محترم دى دكوم چې هلاكت جائزنه دى .او كه پرحامله دزنى په وجه دُري لازمې شوي وي نوترڅوچې داله نفاس څخه پاكه نه شي ترهغه وخت پوري به داپه دُرونه وهل كيږي ولى چې دايوقسم مرض دى لهذاترروغتياپوري به حد مؤخركيږي ،اوكه دد ي حدرجم وي نودولادت متصل درجم كړاى شې ولى چې تاخيردماشوم په وجه وواوماشوم خوجلاشو لهذادمزيدتاخيرضرورت نشته .

بَابُ الْوَطْءِ الَّذِي يُوجِبُ الْحَدَّ وَالَّذِي لَا يُوجِبُهُ

دباب دداسې وطى په بيان كې دى كومه چې موجب حدده اوكومه چې موجب حدنه ده .

له دي څخه وړاندي حقيقت زنااوكيفيت حدبيان شوپه دي باب كې دموجب حدزناتفصيل بيانيږي چې كوم قسم موجب حدده اوكوم قسم موجب حدنه ده .

(١)لَاحَدَّ بِشُبْهَةِ الْمَحِلِّ وَإِنْ ظَنَّ حُرْمَتَهُ كَوَطْءِ أَمَةِ وَلَدِهِ وَوَلَدِ وَلَدِهِ(٢)وَمُعْتَدَّةِ الْكِنَايَاتِ{(٣)وَلِشُبْهَةِ الْفِعْلِ إِنْ ظَنَّ حِلَّهُ كَمُعْتَدَّةِ الثَّلَاثِ وَأَمَةِ أَبَوَيْهِ وَزَوْجَتِهِ وَسَيِّدِهِ(٤)وَالنَّسَبُ يَثْبُتُ فِي الْأُولَى فَقَطْ

ترجمه :دشبه محل په وجه حدنشته كه څه هم يې گمان وي دهغې دحرمت لكه دخپل زوى يالمسى له مينځې سره وطى كول، اوله معتده كنايات سره وطى كول ،اودشبه فعل په وجه سره كه يې دهغې دحلال والى گمان وي لكه له معتدة الثلث سره وطى كول اودموراوپلارله مينځې سره وطى كول يادخپلې ښځې له مينځې سره وطى كول يادمولى له مينځې سره وطى كول ،اونسب ثابتيږي صرف په اولنى صورت كې .

تشريح :(١)كه دوطى په محل يعنى ښځه كې دحلت شبه وي نوله دي سره په صحبت كولو حدنه واجبيږي كه څه هم صحبت كونكى ته ددي دحرام والى ظن غالب وي مثلاً چادخپل زوى يالمسى له مينځې سره وطى وكړه نوپرده حدنشته كه څه هم دى وواېي چې ماته معلومه وه چې داپرماحرامه ده ولى چې دنبي كريم صلى الله عليه وسلم

له فرمان ﴿انت ومالک لأبیک﴾ (ته او ستا مال ستا دپلار دی) څخه معلومیږي چې د اولاد مال د پلار مال دی نو له دي څخه د حلت شبه پیدا شوه که څه هم بنظر دلیل شرعی ددي حلت ثابت نه دی ،او شبه فی المحل حد لره رافع ده ولی چې والحدود تندرئ بالشبهات (یعنی حدود د شبه په وجه سره دفع کیږي).

(۲) قوله ومعتدة الکنایات ای کوطی معتدة الکنایات ،یعنی که چا خپلې ښځې ته په کنایه الفاظو سره طلاق ورکړاو ښځه په عدت کې وه د عدت په دوران کې ده له دي سره صحبت وکړ نو په صحبت کونکي حد نشته ولی چې دلته هم د حلت دلیل موجود دی په دي وجه چې په کنایه الفاظو سره د واقع کیدونکی طلاق په باره کې د صحابه کرامو ﷺ اختلاف دی چې ایا په دوئ رجعی طلاق واقع کیږي او که بائن.

(۳) قوله وبشبهة الفعل ان ظن حله ای لاحدبشبهة الفعل ان ظن حله ،یعنی په فعل کې د شبه په وجه هم حد نه واجبیږي یعنی د نفس صحبت د حلال والی شبه وي په دي شرط چې واطی ته د هغې د حلال والی ظن غالب وي مثلاً چا خپلې ښځې ته دري طلاقه ورکړل ښځه عدت تیروي د عدت په دوران کې ده له هغې سره وطی وکړه نو پر واطی حد نشته که څه هم په کتاب الله او اجماع سره ثابته ده چې له دي ښځې سره وطی کول جائز نه ده لیکن که ده لره غالب ګمان د حلال والی وو نو پر ده حد نشته ولی چې اثر ملک یعنی د ښځې د خاوند په کور کې عدت تیرول او پر خاوند وجوب نفقه وغیره تر اوسه باقی دي لهذا ده د ګمان اعتبار به کیږي او پر ده به حد نه جاري کیږي ،همداشان د پلار یا مور یا خپلې ښځې یا د خپل مولی له مینځې سره که د حلال والی په ګمان سره وطی وکړي نو پر ده حد نشته ولی چې له مور پلار او وجه وغیره سره اتصال املاک موجود وي.

ف: په بنیادي ډول شبه پر دوه قسمه ده ،شبه فی الفعل کومې ته چې فقهاء شبهة الاشتباه هم وایي ،او شبه فی المحل ،د شبه فی المحل صورت دادی چې د کوم شئ حرام ارتکاب چې کول شوی دی د هغه د حرمت نفی کونکی کوم دلیل هم موجود وي مثلاً کوم کس د طلاق بائن په عدت کې وطی وکړه ،په دي صورت کې که مجرم د حرمت ګمان لري بیا هم حد نه واجبیږي.

شبه فی الفعل داده چې په حقیقت کې د حرمت په خلاف کوم دلیل موجود نه وي مګر مجرم د خپل قصور فهم په بناء غیر دلیل دلیل متصور کړی وي په داسې صورت کې که مجرم د حلال والی په ګمان سره د زنا ارتکاب کړی وي نو بیا خو پر ده حد نه جاري کیږي او که یې په حرام ګڼلو سره د جرم ارتکاب کړی وي نو حد جاري کیږي،د شبه فی الفعل مثال له دري طلاقه وروسته په عدت کې وطی کول دي چې د عدت په دوران کې ددي نفقه او سکنی د سابق خاوند پر ذمه باقي پاتې کیږي اوس که کوم کس دا د بقاء زوجیت دلیل وګڼي له دي سره وطی وکړي نو دده داعمل قطعاً صحیح نه دی غلط دی لیکن ددي په وجه حد ساقطیږي (قاموس الفقه: ۱۸۰/۴).

(۴) او په مذکوره بالا صورتونو کې که ماشوم وزیږیدی نو د ماشوم نسب صرف په اولنی صورت (یعنی شبه فی المحل) کې ثابتیږي په دوهم صورت (یعنی شبه فی الفعل) کې نه ثابتیږي ولی چې په دوهم صورت کې فعل وطی محض زنا ده لهذا نسب نه ثابتیږي ،بې شکه حد زنا له ده څخه ساقط دی په دي وجه

چې معامله پرده مشتبه شوي ده .حال داچې په اولنی صورت کې فعل وطی محض زنانه ده ولی چې اشتباه په دي صورت کې په محل کې ده لهذا په دي صورت کې نسب ثابتیږي .

(۵) وحُدّ بِوَطْءِ أَمَةِ أَخِيهِ وَعَمّه وإن ظَنّ حِلّهُ (۶) وَامْرَأَةٍ وُجِدَتْ فِي فِرَاشِهِ (۷) لا بِأَجْنَبِيّةٍ زُفّتْ وَقِيلَ هِيَ زَوْجَتُكَ وَعَلَيْهِ مَهْرٌ (۸) وَبِمُحَرَّمٍ نَكَحَهَا (۹) وَبِأَجْنَبِيّةٍ فِي غَيْرِ الْقُبُلِ (۱۰) وَبِاللّوَاطَةِ (۱۱) وَبَهِيمَةٍ (۱۲) وَبِزِنًا فِي دَارِ حَرْبٍ أَوْ بَغْيٍ

ترجمه :او حد جاري کیږي دخپل وروراو خپل اکاله مینځې سره په وطی کولو که څه هم دهغې دحلال والی گمان یې وي ،اوله داسې ښځې سره په وطی کولو کومه چې دی په خپله بستره کې وموندي ،نه له هغه اجنبیه سره په وطی کولو کومه چې لیږل شوي وي دزفاف په شپه ده ته او ویل شوی وي چې داستا ښځه ده او پرده مهرواجب دی ،اوله داسې محرمه سره په وطی کولو چې له هغې سره یې نکاح کړي وي ،اوله اجنبیه سره په غیرقبل کې په وطی کولو سره ،او په لواطت سره ،اوله څاروی سره په وطی کولو ،او په دارالحرب کې په زناکولو یا په دارالبغی کې په زناکولو .

تشریح :(۵)که چادخپل وروریااکاله مینځې سره وطی وکړه که څه هم دده گمان داوي چې دازماله پاره حلاله ده نو بیا به هم پرده حدجاري کیږي ولی چې ددوئ په منځ کې اتصال املاک نشته نو شبه حلت هم نشته نو دده دحلال والی گمان غیرمعتبردی ولی چې منسوب الی الدلیل نه دی لهذا پرده به حدجاري کیږي .

(۶)قوله وامرأة وجدهاالخ ای وحدبوطی امراة اجنبية وجدهاعلی فراشه ،یعنی که چاپرخپله بستره باندي کومه اجنبیه ښځه وموندله او له هغې سره یې وطی وکړه نو پرده حدواجب دی ولی چې دطول صحبت په وجه په زوجه او غیرزوجه کې اشتباه نه شي کیدای نو دده گمان پرکوم دلیل مبنی نه دی لهذا حدواجبیږي .

(۷)قوله لاباجنبیة زفت ای لایحدبوطی اجنبیة بعثت الی الزوج وقلن لههی زوجتک الخ ،یعنی که له نکاح څخه وروسته دزفاف په شپه خاوندته دده دښځې پرځای بله ښځه ورولیږل شوه او ښځو ده ته وویل چې داستا ښځه ده ده له هغې سره وطی وکړه نو پرده حدنه واجبیږي ولی چې ده پردلیل اعتمادکړی دی یعنی په موضع اشتباه کې دښځې په خبرورکولو ولی چې انسان په اول وهلة کې دخپلې ښځې او غیرپه منځ کې فرق نه شي کولی نو دی دمغرور(دهوکه شوي)کس په شان دی په دي وجه دده نسب هم ثابتیږي ،هو په دي کس دده دي ښځې لپاره مهرلازم دی ولی چې په دارالاسلام کې وطی له حد یامهر څخه نه شي خالي کیدای ،حدخودشبه په وجه ساقط شولهذا مهرمثل واجب دی.

(۸)قوله وبمحرمة نكحها ای لایحدبوطی امراة محرمة نکحها ،یعنی که چاله داسې ښځې سره نکاح وکړه کومه چې دهمیشه لپاره پرده حرامه وي بیایې له هغې سره وطی وکړه نو دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد پرده حدنه واجبیږي خواه که ده لره دحرمت علم وي او که نه وي ولې چې دعقدنکاح په وجه دحلت شبه پیدا شوي ده ،دصاحبینو او ائمه ثلاثه په نزدکه واطی لره دحرمت علم وونو حدبه ورکول کیږي ولی چې دمحرماتو حرمت په دلیل قطعی سره ثابت دی .

ف :دصاحبینو پرقول فتوی ده لمافی الهندیة: والشبهة فی العقدفی وطء محرم تزوجهافانه لایحدعلیه عندابی حنیفه .....وعندهمایحدان علم بالحرمة وان لم یعلم فلاحدعلیه وبه اخذالفقیه ابو اللیث وعلیه الفتوی (الهندیة: ۲/ ۱۴۸)

(۹)قوله وباجنبية فى غير القبل اى لايحد بوطى اجنبية فى غير القبل ،يعنى كه چاله اجنبيه ښځې سره په غيرقبل كې جماع وكړه مثلاً خپله آله يې دښځې په ورانه يانس كې كښينوده نوپرداسې كس حدنه جاري كيږي ولى چې شرعًا ده لره كوم حد مقرر نه دى بلكه تعزير به وركول كيږي ولى چې ده دفعل منكر ارتكاب كړى دى .

(۱۰)قوله وباللواطة اى لايحد ايضا باللواطة ،يعنى كه چاله ښځې سره په مقام مكروه يعنى مقعده كې وطى وكړه ياي له كوم مذكر سره لواطت وكړنو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد پرده حدنشته بلكه ده ته به تعزير وركول كيږي .او دصاحبينو په نزد لواطت دزنى په ځيردى لهذا پرده حد واجب دى ،همدا رازله حضرت ابن عباس رضي الله عنه قول دى چې كوم چاله چې تاسې په لواطت كولو سره ومومئ نو فاعل او مفعول دواړه قتل كړئ ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادى چې لواطت په حقيقت كې زنانه ده ولى چې دلواطت په سزاكې دصحابه كرامو رضي الله عنهم اختلاف دى چې په اوردې وسوځوي يادې پرده ديوال راچپه كړاى شې ،يادې له لوړې ځخه راوغورځوي او له شادې په دبرو وويلې وغيرذالک ،نوكه لواطت دزنا په ځيروای نوصحابه كرامو رضي الله عنهم به يې په حد كې اختلاف نه وكړى .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى لماقال ابراهيم بن محمدالحلبى :اوعمل عمل قوم لوط فانه يعزر ولايحد عندالامام وعندهما يحد وهو احد قولى الشافعى.......ومارواه الشافعى محمول على السياسة وعلى المستحل الا انه يعزر عنده كما فى الهداية ،وفى المنح ،والصحيح قول الامام وفى الفتح ان يودع فى السجن حتى يتوب اويموت (مجمع الانهر:۲/۳۵۰)وقال العلامة ابن عابدين: ولايحد عندالامام الا اذاتكرر فيقتل على المفتى به ،قال البيرى والظاهر انه يقتل فى المرة الثانية لصدق التكرار عليه (ردالمحتار:۳/۱۷۱)

(۱۱)قوله وبهيمة اى لايحد بوطى بهيمة ،يعنى كه چادخپل ياغيرله ځاروى سره وطى وكړه نوپرده حدنه واجبيږي ولى چې دادزنا په معنى نه ده په دې وجه چې طبع سليم له دې ځخه نفرت كوي ،البته ده ته به تعزير وركول كيږي ولى چې ده دفعل منكر ارتكاب كړى دى.

(۱۲)كه چا په دارالحرب يادباغيانو په ملک كې زنى وكړه بيا دارالاسلام ته راغى نوپرده حد واجب نه دى ولى چې ده په داسې ځاى كې زنى كړې ده چيرته چې زموږ دامام تصرف نشته لهذا حدنه واجبيږي او دلته له راتلو ځخه وروسته موجب حدنشته ولى كوم فعل چې له ابتداء ځخه موجب حدنه وي نو هغه انتهاء هم موجب حدنه دى.

(۱۳)وبزنا حربي بذمية لا في عكسه(۱۴)وبزنا صبي او مجنون بمكلفة(۱۵)بخلاف عكسه(۱۶)وبالزنا بمستأجرة(۱۷)وبالاكراه

ترجمه:(اوحدنه جاري كيږي)دحربى په زناكولو له ذميه سره دحربې په حق كې ،اودنابالغ ياليونى په زناكولو له مكلفې سره ،په خلاف ددې په عكس كې ،اوپه كرايه باندې له رواړل شوې سره په زناكولو، اوپه زور په زناكولو سره ،

تشريح :(۱۳)قوله وبزنا حربى الخ اى لايحد بزنا حربى بذمية ،يعنى كه حربى كافرد مستامن په حيثيت سره دارالاسلام ته داخل شو بيا ده له ذميه سره زناوكړه نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په نرباندې حدنه جاري كيږي حال داچې دامام ابويوسف رحمه الله په نزد مستامن چې ترڅوپورې په دارالاسلام كې اوسيږي ترهغه وخته دده ذمى په شان زموږ دقول احكام پرخپل ځان لازم كړي دي لهذا دذمى په شان به پرده هم حدجاري كيږي ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادى چې مستامن دارالاسلام ته دمستقلې اوسيدنې لپاره نه ده راغلى بلكه دتجارت

وغيره كوم ضرورت لپاره دېيرته تللوپه نيت راغلي دي لهذا دي ذمياتوپه شان نه شوا وموږ داحكاموالتزام ده صرف دومره اندازه كړى دى په څومره اندازه سره چې دده مقصود حاصليږي اوهغه حقوق العباددي حال داچې حدمحض حق شرع ده له حقوق العباد څخه نه ده ،اوداحكم صرف دمستامن په حق كې دى ،باقي له كومې ذميه سره چې ده زناكړي ده پرهغې به حدجاري كيږي ولى چې ذميانوزموږ داحكاموالتزام كړى دى.

(۱۴)قوله واوناصبى الخ اى لايحدالصبى والمجنون بالزنابامرأة مكلفة الخ ،يعني كه نابالغ هلك يامجنون له بالغې ښځې سره زناوكړه نوپه دوئ كې به يوه هم حدواجب نه دى په هلك اومجنون خودحدپه نه واجبيدلودامت اجماع ده زموږپه نزدپربالغه ښځه هم حدنشته ولى چې زنادهغه كس فعل دى كوم چې له دي قبيح فعل څخه دځيل ځان په منع كولومخاطب دى حال داچې ده هلك اومجنون دافعل په دي صفت سره متصف نه دى لهذاددوئ فعل موجب حدهم نه دى.

(۱۵)اوكه ده مذكوره بالاصورت عكس وي يعني عاقل بالغ كس له نابالغې انجلى يامجنونې سره زناوكړه نوپرده حدواجب دى ولى چې له عاقل بالغ كس څخه دصادريدلوپه وجه داحقيقة زناده انجلى اومجنونه تابع ده نوكه ددوئ په حق كې دازنانه ده نوله دي څخه دانه لازميږي چې دنارينه په حق كې دي هم زنانه وي.

(۱۶)قوله وبالزنابالمستاجرة اى لايحدبالزنابامرأة التى استاجرهاليزنى بها،يعني كه څوك دزنالپاره كومه ښځه خپل كورته په كرايه راولي اوله هغې سره زناوكړي نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپرده حدنشته .حال داچې دصاحبينواوائمه ثلاثه په نزدپرده حدواجب دى ولى چې نه ددوئ په منځ كې ملك شته اونه شبه ملك شته لهذادمحض زناكيدلوپه وجه سره حدواجب دى .دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادى چې بارى تعالى په ﴿ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ﴾ كې مهرته اجرت ويلى دى لهذاپه دي سره شبه حلت پيداشوه ،والحدودتندرئ بالشبهات (يعني حدوددشبه په وجه سره دفع كيږي)،اوكه يې دخدمت لپاره خپل كورته راوستله اوبيايې له هغې سره زناوكړه نوبالاتفاق حدپرواجب دى ولى چې دلته كومه شبه نشته.

ف:دصاحبينوقول راجح دى لمافى الدرالمنتقى :(ولايحد)من وطئ من استاجرهاليزنى بهاعندابى حنيفه خلافالهما،فانه يحدعندهمافى المسالتين وعليه التعويل كمافى فتح القديروغيره،وفى الخلاصة فى مسالة المحرم وعلى قولهماالفتوى وفى القهستانى بعدأن نقل عن المضمرات تصحيح قوله ،قال:وفى موضع آخراذالزوج بمحرمة يحدعندهماوعليه الفتوى واما فى مسالة المستاجرة وكذاالمستعارة فجزم القهستانى بوجوب الحدفيهما(الدرالمنتقى:۲/۳۴۹)

(۱۷)قوله وباكراه اى لايجب الحدبالزنابالاكراه ،يعني كه په كوم كس باندي دزناكولولپاره زوروكړل شوچې دهغه په نتيجه كې ده زناوكړه نوپرده حدنه جاري كيږي دامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب په اول كې داووچې پر مكره حدجاري كيږي ولى چې انتشارآله ددي دليل دى چې ده په خوښى زناوكړه مگربياامام ابوحنيفه رحمه الله له دي رجوع وكړه اووي فرمايل چې پرده حدنشته ولى چې انتشارآله كله په اراده سره نه وي بلكه دطبيعت په مقتضى سره وي لكه په خوب كې نودده له طرف څخه شبه پيداشوه والحدودتندرئ بالشبهات (يعني حدودپه شبهاتوسره دفع كيږي).

(۱۸)وَبِإِقْرَارٍ إِنْ أَنْكَرَهُ الْآخَرُ (۱۹)وَمَنْ زَنَى بِأَمَةٍ فَقَتَلَهَا لَزِمَهُ الْحَدُّ وَالْقِيمَةُ (۲۰)وَالْخَلِيفَةُ يُؤْخَذُ بِالْقِصَاصِ وَبِالْأَمْوَالِ لَا بِالْحَدِّ

ترجمه : او (حد نه جاري کېږي) د زنا په اقرار کولو سره په داسې حال کې چې هغه بل انکار کوي ، او چا چې له مینځې سره وطی وکړه بیا یې هغه قتل کړه نو پر ده حد او قیمت لازم دی ، او د خلیفه مؤاخذه به کېږي په قصاص او اموالو نه په حد .

تشریح : (۱۸) قوله وبالاقرار ای لایجب الحد باقرار الحد الزانیین ، یعنی که له زانی او مزنیه شخصه یو په خپلو څلورو مجلسونو کې څلور ځله اقرار وکړ چې ما له فلان سره زنا وکړه مګر هغه بل له زنا څخه انکار کوي نو پر یو ه به هم حد نه جاري کېږي ولی چې زنا د دواړو په منځ کې مشترک فعل دی او په دواړو پوري قائم دی نو له یوه شخصه په انتفاء سره له هغه بل شخصه د فعل زنا په صدور کې شبه پیدا کېږي لهذا پر مقر هم حد نه جاري کېږي .

(۱۹) که چا د کوم بل چا له مینځې سره په دې ډول زنا وکړه چې هغه مړه شوه نو په زانی به حد هم جاري کېږي او پر ده د مینځې قیمت هم واجب دی ولی چې ده دوه جرمه وکړل زنا یې وکړه او مینځه یې قتل کړه و نو پر هر جرم به د هغه حکم مرتب کېږي تو دا داسې شوه لکه چې کوم مسلمان د ذمی شراب وڅښې نو پر ده حد هم واجب دی او د ذمی د شرابو ضمان هم واجب دی .

(۲۰) او د مسلمانو داسې خلیفه چې له هغه شخصه لوړ امام نه وي پر هغه له قصاص او حقوق العباد څخه ماسوا هیڅ حد نشته ولی چې حدود حقوق الله دي او د حدودو قیام په خپله د همدې خلیفه په لاس کې دی نو ده لره په خپل ځان حد جاري کول ممکن نه دی ولی چې حد بطور سزا جاري کېږي او کوم انسان خپل ځان ته سزانه ورکوي په خلاف د قصاص او نورو حقوق العبادو ولی چې کوم بنده چې حقدار دی هغه به خپل حق وصو کړي خواه که خپله خلیفه ده ته د خپل حق د وصول کولو قدرت ورکړي یا صاحب حق د نورو مسلمانو په قوت سره له ده شخصه خپل حق وصول کړي .

بَابُ الشَّهَادَةِ عَلَى الزِّنَا وَالرُّجُوعِ عَنْهَا

دا باب پر زنا د ګواهي ورکولو او له هغې څخه د رجوع کولو په بیان کې دی

په ماقبل کې بیان شو چې حد په شهادت او اقرار سره ثابتېږي ، په دې باب کې یې هغه اسباب او عوارض ذکر کړي دي په کوم چې شهادت ردېږي ، لکه تقادم ، جهل بالمزنیه وغیره او دا عوارض خلاف الاصل دي په دې وجه د دې تاخیر مناسب دی .

(۱) شهدوا بحد متقادم بدون حد القذف لم یحد (۲) وضمن المال (۳) ولو شهدوا بزنا بغائبة حد بخلاف السرقة (۴) وان اقر بالزنا بمجهولة حد (۵) وان شهدوا علیه بذلک لا کما لو اختلفوا في طوعها (۶) او في البلد ولو علی کل زنا اربعة (۷) ولو اختلفوا في بیت واحد حد الرجل والمرأة

ترجمه : ګواهي یې ورکړه په کوم پخوانی حد باندې ماسوا له حد قذف شخصه نو حد نه جاري کېږي ، او د مال ضامن دی ، او که ثابت کړ ګواهانو د یو چا له غائبې ښځې سره زنا کول نو حد به جاري کېږي په خلاف د سرقې ، او که چا اقرار وکړ له کومې مجهولې ښځې سره د زنا کولو نو حد به جاري کېږي ، او که ګواهانو د دې ګواهي ورکړه نو نه جاري کېږي لکه د ګواهانو اختلاف په خوښه سره په زنا کولو کې ، یا په ښار کې که څه هم پر هره

زنا باندي څلور ګواهان وي .او که ګواهانو په يوه کوټه کې اختلاف وکړنو په نرا و ښځې دواړو به حد جاري کيږي .

تشريح :(۱)که ګواهانو د تيري شوي زمانې په کوم پخوانې حد باندي ګواهي ورکړه حال دا چې دوئ لره له ګواهي ورکولو څخه هيڅ مانع نه وو مثلاً له امام څخه ليري والی يا مرض يا دلاري خوف هيڅ نه وو نو د دوئ ګواهي به نه قبليږي ولی چې دګواهي تاخير به يا دستر پوشي په نيت وي يا به له دي څخه علاوه د تساهل پر بناء وي په اول صورت کې اوس دګواهي ورکولو سبب ماسوا له عداوت څخه بل څه شئ کيدای شي لهذا تهمت په وجه د دوئ ګواهي معتبره نه ده او په دوهم صورت کې د تساهل په وجه دا کس فاسق دی لهذا ده ګواهي معتبره نه ده .البته که چاپه پخوانې حد قذف ګواهي ورکړه چې ده په فلانی دزنا په دروا غو تهمت لګولی دی نو دا باطله نه ده ولی چې حد قذف له حقوق العباد څخه دی او د وخت په تيريدلو سره حقوق العباد نه باطليږي .

(۲)که ګواهانو د تيرشوي زمانې د غلا په حد ګواهي ورکړه نو څرنګه چې دا ګواهي معتبره نه ده نو پرده به حد نه جاري کيږي لما قلنا،مګر له غله څخه به د مسروق مال تاوان اخيستل کيږي ولی چې د مال ضمان د حقوق العباد له قبيلې څخه دی او د وخت په تيريدلو سره حقوق العباد نه باطليږي .

(۳)که ګواهانو د کوم کس له کومې اجنبيه ښځې سره زنا ثابته کړه کومه چې د قاضی له مجلس څخه غائبه ده نو په زانی به حد جاري کيږي ولی چې دا زنا ثابت بالحجة ده لهذا پر زانی به حد جاري کيږي ،او که ګواهانو که کوم کس دا ثابته کړه چې ده د فلان غائب مال غلا کړی دی نو پر دي غله به حد نه جاري کيږي يعنی دده لاس به نه پري کيږي ولی چې د حد سرقه لپاره د مدعی له طرفه دعوی شرط ده دلته مدعی غائب دی نو دعوی نشته لهذا پر ده به حد نه جاري کيږي .

(۴)که چا اقرار وکړچې ماله يوي داسې ښځې سره زنا کړي ده کومه چې زه اوس نه پيژنم نو پر ده به حد جاري کيږي ځکه چې د دي ښځې نه پيژندنه د دي خبري دليل دی چې ده له اجنبيه ښځې سره صحبت کړی دی ولی که يې له خپلې ښځې يا مينځې سره صحبت کړی وای نو خامخا به يې پيژندلې وه .

(۵)قوله ولو شهدوا بهذا الک لاای لو شهد الشهود علی رجل بانه زنا بامراة لا نعرفها لایحد المشهود عليه ،يعنی که ګواهانو په کوم کس داسې ګواهي ورکړه چې ده له يوي داسې ښځې سره زنا وکړه کومه چې موږ نه پيژنو نو پر ده به حد نه جاري کيږي ولی کيدای شي چې هغه ښځه دده ښځه يې يا مينځه وي بلکه ظاهر همدا ده ولی چې مسلمان حرام کاري نه کوي ،او دا داسې ده لکه چې ګواه په خپل منځ کې اختلاف سره وکړي دوه خو دا وايي چې ده له فلانی ښځې سره جبرا زنا وکړه او دوه نور بيا دا وايي چې هغه ښځه له ده سره په زنا کولو راضی وه ،نو دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد پر دواړو حد نه جاري کيږي ولی چې د ښځې په طرف کې مشهود به مختلفه شوه له کوم څخه د نارينه په جانب کې شبه پيدا شوه ولی فعل يو دی په دواړو پوري قائم دی او کوم فعل چې په دواړو پوري قائم وي هغه په دوو متضاد و صفتونو نه شي متصف کيدای لهذا له دواړو څخه به يو ته هم حد نه

کول کیږي .دصاحبینوپه نزدپرنارینه حدجاري کیږي ولی چې دنارینه په خوښې سره په زناکولودګواهانواتفاق دی.

ف:دامام صاحب قول راجح دی لمافی الدر المختار:لایحدلاحتمال انهاامرأته اوامته کاختلافهم فی طوعها(الدر المختار علی هامش ردالمحتار:۳/۱۴۳).قال الشیخ عبدالحکیم الشهید:وهوقول الائمة الثلاثة وبه جزم فی الدر المختار والشامی والیه یظهرمیل اکثرالمشائخ والمحققین(هامش الهدایة:۲/۵۰۰)

(۶)قوله اوفی البلدای کاختلافهم فی البلد،یعنی که ګواهانوپه ښارکې اختلاف وکړنوددي دوه صورتونه دي یوداچې مثلادووګواهانوویل چې ده په کوفه کې له فلانۍ ښځې سره زناوکړه دوونورو وویل چې ده په بصره کې له دي ښځې سره زناوکړه په دي شرط چې دواړه قسمه ګواهان وخت یویادکړي نوله ښځې اونارینه څخه به یوه ته هم حدنه ورکول کیږي ولی چې له دواړوڅخه یوفریق خامخاکاذب دی نودګواهانودنصاب دنه پوره کیدلوپه وجه سره حدنه جاري کیږي ،دوهم صورت دادی چې څلورګواهان ګواهي ورکړي چې زنادجمعې په ورځ په کوفه کې سهارپه نهه بجې وشوه اونوروڅلورو ګواهانوګواهي ورکړه چې دجمعې په ورځ په په نهه بجې په بصره کې وشوه نوپه نارینه اوښځې یوه به هم حدنه جاري کیږي ولی چې موږیقین لروچې له دواړوشهادتوڅخه یوخامخادرواغ ده ولی چې دیوه کس په یوه وخت کې په دوو متباعدومکانوکې موجودیدل محال دی نوهره یوه ګواهي متهم بالکذب ده په دي وجه دادواړه ګواهیانې مردودي دي.

(۷)که ګواهانوپه دي دول اختلاف وکړچې دووویل چې ده له فلانۍ ښځې سره دکوټې په فلانی کونج کې زناوکړه اودوونوروویل چې په هغه بل کونج کې یې زناوکړه نوپردواړوبه حدجاري کیږي ولی چې ددواړوفریقوربښتیاوالی ممکن دی په دي وجه چې کیدای شي چې کوټه کوچنۍ وي اوداضطراب په وجه ابتداء په یوه کونج کې شوي وي اوانتهاء په هغه بل کونج کې ،لهذادګواهانو دنصاب دپوره والي په وجه سره به حدجاري کیږي.

(۸)وَلَوْشَهِدُواعَلٰی زِنَاامْرَأَةٍ وَهِيَ بِكْرٌ(۹)اَوْ الشُّهُودُ فَسَقَةٌ(۱۰)اَوْشَهِدُواعَلٰی شَهَادَةِ أَرْبَعَةٍ وَاِنْ شَهِدَ الْأُصُولُ اَيْضًالَمْ يُحَدَّأَحَدٌ(۱۱)وَلَوْ كَانُواعُمْيَانًا اَوْ مَحْدُودِيْنَ اَوْ ثَلٰثَةً حُدَّ الشُّهُوْدُ لَا الْمَشْهُوْدُ عَلَيْهِمَا

ترجمه:که ګواهانودکومې ښځې پرزناګواهي ورکړه اوحال داچې هغه باکره ده ،یاګواهان فاسق دي ،یایې دڅلورو نوروګواهانوپه ګواهۍ ګواهي ورکړه که څه هم اصل ګواهاه هم ګواهي ورکړي نوپرهیچابه حدنه جاري کیږي ،اوکه ګواهان ړانده یامحدودفی القذف وي یادري وي نوپرګواهانوبه حدجاري کیږي نه پرمشهودعلیه باندي.

تشریح:(۸)که څلوروګواهانوپرکومې ښځې دزناګواهي ورکړه حال داچې هغه باکره ده یعنی نورو ښځوکتلې اوویل چې داخوباکره ده نوپردي به حدنه جاري کیږي ولی دښځوقول که څه هم په وجوب حدکې حجت نه دی مګرپه اسقاط حدکې حجت دی لهذاله نارینه اوښځې دواړوڅخه حدساقط دی . اوپرګواهانوبه حدقذف هم جاري کیږي ولی هغوئ دشهادت په لفظ سره ګواهي ورکړي ده اودګواهانو عددهم پوره دی لهذپردوئ حدقذف نه جاري کیږي.

(۹)قوله اوالشهود فسقة ای لوشهدا ربعة بالزنا وهم فساق لم يحدا حد،يعنی كه څلورو ګواهانو پر كوم ښځه دزناګواهي وركړه حال داچې ګواهان فاسقان دي نوهم به پر ښځه حد نه جاري كيږي ولی چې دفساقو په ګواهي سره زنانه ثابتيږي، اوپرګواهانو حدقذف هم نشته ولی چې ګواهان دتحمل شهادت اواداء شهادت اهل دي كه څه هم په اداء شهادت كې دتهمت كذب په وجه سره قصوردی.

(۱۰)صورت مسئله دادی چې دچاپرزناڅلورګواهان ووهغوئ پرخپله ګواهي نورڅلورګواهان جوړكړل يادي څلورو ګواهانودخپل اصل ګواهانوپه ګواهي پردي كس دزناكولوګواهي وركړه نوپردي حدنه جاري كيږي ولی چې په دي كې داشبه ده چې داصل ګواهانوګواهي نه ده معلومه چې په كوم عبارت سره وه شايدهغه دردولوقابل وي ،اوكه دهغه صحت تسليم شي نوبيادااحتمال دی چې دانورو څلوروګواهانوزيادت ياكمبوت كړی وي نوپه دي پرشبه شبه ده لهذاداګواهي مردوده ده ياكه اصل ګواهان راغلواوګواهي يې وركړه نوهغه به هم رديږي ولی چې له دي څخه وړاندي ددوئ ګواهي په يوقسم ردكړل شوه په دي دول چې دهمدي واقعه په باره كې ددوئ دفروعوګواهي ردشوه حال داچې هغوئ ددوئ په حكم ګواه جوړشوي وو ،اوپه ګواهانوحدقذف په دي وجه نه جاري كيږي چې ددوئ عددپوره دی

(۱۱)كه څلورګواهانوپرچادزناګواهي وركړه حال داچې هغه ګواهان ړانده دي يادا سې دي چې كوم وخت پريوچاپه درواغودتهمت لګولوپه وجه پردوئ حدقذف جاري شوی دی ياګواهان څلورنه بلكه دري دي نوپرچاچې داكسان ګواهي وركوي پرهغه حدنه جاري كيږي ولی چې دړاندواومحدودفی القذف په ګواهي سره مال هم نه ثابتيږي كوم چې دشبه باوجودهم ثابتيږي نوحدبه څرنګه پري ثابت شي كوم چې په شبهاتوسره ساقطيږي ،نوكله چې ددي ګواهانوپه ګواهي سره زناثابته نه شوه نوګواهانوته به حدقذف روكول كيږي ولی چې ددوئ ګواهي اوس پرپاک لمن باندي تهمت شمارل كيږي اوپرپاک لمن په تهمت لګونكي حدقذف جاري كيږي.

(۱۲)ولوحدلوجدأحدهم عبدًا اومحدودًا حدُّوا (۱۳)وأرش ضربه هدر (۱۴)وإن رجم فديته على بيت المال (۱۵)فلورجع أحد الأربعة بعد الرجم حدّ وغرم ربع الدية (۱۶)وقبله حدّوا ولا رجم (۱۷)ولو رجع أحد الخمسة لا شيء عليه (۱۸)فإن رجع آخر حدّا وغرما ربع الدية

ترجمه:كه جد جاري كړل شوبياله ګواهانوڅخه كوم يوغلام يامحدودفی القذف وموندل شونوپرتولو په حدجاري كيږي، اودحدضرب تاوان معاف دی ،اوكه رجم كړای شونودهغه ديت پربيت المال دی ،او كه رجوع وكړه له څلورو ګواهانوڅخه يوه له رجم څخه وروسته نوپرده به حدجاري كيږي اوتاوان به وركوي ربع ديت ،اوكه يې له رجم څخه وړاندي رجوع وكړه نوپرتولوبه حدجاري كيږي اورجم نه ثابتيږي،اوكه رجوع وكړه له پنځوڅخه يوه نوپرده هيڅ واجب نه دي ،بياكه يوه بل رجوع وكړه نوپردواړو به حدجاري كيږياودواړه به دربع ديت تاوان وركوي.

تشريح:(۱۲)كه څلوروګواهانوپريوچادزناګواهي وركړه قاضي ددوئ په ګواهي پرمشهودعليه حدجاري كړبياله ګواهانوڅخه يوغلام ثابت شويامحدودفی القذف ثابت شونواوس پرګواهانوحد قذف جاري كيږي

ولې چې دغلام او محدودفي القذف گواهي معتبره نه ده باقي دري پاتې شونود گواهانودنصاب دنه پوره کيدلوپه وجه سره داخلک تهمت لګونکې شمارل کيږي لهذاپردوئ به حد قذف جاري کيږي.

(۱۳)په مذکوره بالاصورت کې که مشهودعليه پردُرووهل شوچې په هغه سره دی زخمي شونودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدددي زخم (که حد دُرووهلو وو) پرهيچاتاوان نشته ولې پرګواهانو خوله په دي وجه تاوان نشته چې ددوئ په ګواهي سره خوصرف ايذاء ورکونکی ضرب ثابت شوی دی نه زخمي کونکی ،زخم خوددُرووهونکي دعدم تجربې په وجه راغی قصورددُرووهونکي دی لهذاپر ګواهانوضمان نشته ،مګرپرجلاد هم تاوان واجب نه دی ولې چې پرجلادپه تاوان واجبولوکي دانقصان راځي چې خلک به له دُرووهلوڅخه انکاروکړي .دصاحبينوپه نزددګواهانودرجوع په صورت کې ددي تاوان پرګواهانودی اوکه ګواهانورجوع ونه کړه نوتاوان يې پربيت المال دی ولې چې دګواهانوپه ګواهي سره ضرب ثابتيږي بيادوهلوپروخت له زخم څخه ځان ساتل ممکن نه دی لهذاداضرب زخمي کونکی ضرب ته هم شامل دی نوزخمي کيدل ياله زخم څخه مړکيدل ذهمدوئ دګواهي طرف ته منسوب کيږي لهذاله ګواهي څخه درجوع کولوپه وخت ګواه ضامن دي اوکه ګواه له ګواهي څخه رجوع ونه کړه نوبياتاوان پربيت المال په دي وجه واجب دی چې ددُري وهونکي فعل دقاضی طرف ته منتقل کيږي اودقاضی فعل دټولو مسلمانانولپاره دی نودهغه تاوان به هم دمسلمانانوپه مال يعنی بيت المال کې واجب وي.

ف:دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لماقال ابراهيم ابن محمدالحلبی :وله ان الفعل الجارح لاينتقل الی القاضی لانه لم يأمربه فيقصرعلی الجلادالاأنه لايجب عليه الضمان فی الصحيح کيلايمتنع الناس عن الاقامة مخافة الغرامة (مجمع الانهر: ۳۵۶/۲۹)وقال الشيخ عبدالحکيم الشهيد:وبقوله قالت الائمة الثلاثة وبه جزم اکثر المحقيقين اخذبه فی المحيط وفتح القدير (هامش الهداية: ۵۰۲/۲)

(۱۴)اوکه په مذکوره بالاصورت کې مشهودعليه په رجم کولوسره مړکړای شونودده ديت بالاتفاق پربيت المال دی ولې چې داکس خطاء دقاضی په قضاء رجم شوی دی اودقاضی په خطاء سره چې کوم نقصان راشي هغه پربيت المال وي ولې چې دقاضی فعل دټولومسلمانانولپاره دی نوددي تاوان هم دټولو مسلمانانوپه مال يعنی بيت المال کې واجب دی.

(۱۵)که څلوروګواهانوپه يومحصن کس دزناګواهي ورکړه قاضی هغه ددوئ دګواهي په مطابق رجم کړاوس په دي څلوروکې يوه له ګواهي څخه رجوع وکړه نوپرړرجوع کونکی به حدقذف جاري کيږي ولې چې دده شهادت اوس تهمت شو، اودربع ديت ضامن دی ولې چې نفس انسان دده په شهادت سره ضائع شواودده شهادت يوه څلورمه ده لهذا بقدرشهادت به پرده ديت وي.

(۱۶)قوله وقبله حدوای لورجع احدمن الشهودقبل الرجم بعدالقضاء حدواکلهم ،يعنی که دقاضی له قضاء څخه وروسته اودحدله جاري کولوڅخه وړاندي له ګواهانوڅخه يوه ګواه له ګواهي څخه رجوع وکړه نود شيخينوپه نزدپرټولو ګواهانو حدقذف جاري کيږي ولې چې په باب الحدودکې حدجاري کول ملحق بالقضاء دی نوله حدجاري کولوڅخه وړاندي دکوم ګواه رجوع کول داسې دی لکه دقاضی له قضاءڅخه وړاندي رجوع کول اودقاضی له قضاء څخه وړاندي په رجوع کولوسره پرټولوحدجاري کيږي لهذاپه دي صورت کې به هم پرټولوحدجاري کيږي، اوپرمشهودعليه رجم نشته ولې چې دهغه زناکول ثابت نه دي.

(۱۷)که پرکوم کس پنځوگواهانودزناگواهي ورکړي وي بیاله هغوپنځوڅخه یوه له گواهي څخه رجوع وکړه نوپررجوع کونکي هیڅ واجب نه دي ولی کوم گواه چې باقي دي په هغوسره نصاب پوره دی اومعتبردهغوئ بقاء ده درجوع کونکی رجوع معتبره نه ده.

(۱۸)اوکه له پنځوڅخه یوه بل هم رجوع وکړه نوپه رجوع کونکودواړ به حدقذف جاري کیږي اودادواړه به دربع دیت ضامن وي ولی چې ددوئ شهادت اوس تهمت شواودربع دیت ضامن به په دي وجه وي چې نفس انساني ددوئ په شهادت سره ضائع شواوددوئ شهادت یوه ربع ده لهذابقدرشهادت به پردوئ دیت وي.

(۱۹)وَضَمِنَ الْمُزَكُّونَ دِيَةَ الْمَرْجُومِ إِنْ ظَهَرُوا عَبِيدًا (۲۰)كَمَا لَوْ قُتِلَ مَنْ أُمِرَ بِرَجْمِهِ فَظَهَرُوا كَذَلِكَ (۲۱)وَإِنْ رَجَمَ فَوُجِدُوا عَبِيدًا فَدِيَتُهُ فِي بَيْتِ الْمَالِ

ترجمه: اوضامن دي تزکیه کونکي درجم شوي ددیت که هغوئ غلام ثابت شول ،لکه چې څوک قتل کړي هغه چې دهغه درجم حکم شوی وي بیاهغه په دي ډول ظاهرشي (غلام ثابت شي)،اوکه رجم کړل شوبیاگواه غلام وموندل شول نودهغه دیت به پربیت المال وي.

تشریح: (۱۹)که څلوروگواهانوپریوچادزناگواهي ورکړه اودگواهانوله تزکیه کونکوڅخه چې کله دگواهانودعدالت په باره کې پوښتنه وشوه هغوئ دگواهانوعدالت بیان کړنومشهودعلیه رجم کړل شوبیاگواه غلام ثابت شول نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددرجم شوی دیت پرهغوواجب دی کوموچې دگواهانوعدالت بیان کړی دی په دي شرط چې تزکیه کونکي دوئ احراروشیي ولی چې گواهي هغه وخت حجت دی چې تزکیه کونکي دگواهانوعدالت بیان کړي نوعدالت بیانول گویاعلة العلة دی نوحکم هم دهغه طرف ته منسوب کیږي.

(۲۰)پورته ذکرشوی صورت داسې دی لکه چې دکوم کس په باره کې څلورگواهان گواهي ورکړي قاضي دهغه درجم حکم وکړي اوس یوکس دی قتل کړله دي څخه وروسته گواه غلام ثابت شول نودقیاس تقاضاداده چې پرده قصاص واجب شي ولی چې ده یومعصوم انسان بلاحقه قتل کړ مگر استحساناپرده دیت واجبیږي وجه استحسان داده چې دده دقتل پروخت دقاضي قضاء صحیح ده لهذاپه دي سره شبه پیداشوه نوپرقاتل قصاص واجب نه دی.

(۲۱)اوکه په مذکوره صورت کې دقاضي درجم دحکم کولوڅخه وروسته چامشهودعلیه قتل نه کړبلکه هغه رجم کړای شوبیاگواه غلام ثابت شول نودهغه دیت پربیت المال واجب دی ولی چې رجم کونکوخودامام اطاعت کړی دی لهذاددوئ فعل دامام طرف ته منتقل کیږي اوکه په خپله امام رجم کوی نودیت پربیت المال واجبیدی همداشان دلته هم دی.

(۲۲)وَلَوْ قَالَ شُهُودُ الزِّنَا تَعَمَّدْنَا النَّظَرَ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمْ (۲۳)وَلَوْ أَنْكَرَ الْإِحْصَانَ فَشَهِدَ عَلَيْهِ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ أَوْ وَلَدَتْ زَوْجَتُهُ مِنْهُ رُجِمَ

ترجمه: اوکه دزناگواهانوویل چې موږدکتلو قصد کړی وونوددوئ گواهي به قبلیږي ،اوکه زاني دمحصن والی انکار وکړي بیایوکس اودوه ښځې دهغه دمحصن والی گواهي ورکړي یادهغه دهغه دښځې له ده څخه ماشوم وزیږي نورجم کیږي به.

تشریح:(۲۲)که گواهانو دچا دزنا په باره کې گواهي ورکړه اوداېې هم وویل چې موږ عمداً ددوئ شرمګاه ته وکتل نوهم به ددوئ گواهي قبلیږي داخلک عمداً دغیرشرمګاه ته دکتلو په وجه فاسق نه شمارل کیږي ولی چې دتحمل شهادت لپاره دهغوئ شرمګاه ته کتل مباح دي په دي وجه چې دضرورت پروخت دغیرشرمګاه ته کتل جائزدي لکه چې دطبیب لپاره دعلاج پروخت بناء برضرورت مباح دي ، همداراز که دداسې کسانوشهادت قبول نه کړای شي نودشهادت علی الزنا دروازه به بنده شي .

(۲۳)که څلورو گواهانوپرکوم کس دزناگواهي ورکړه مګرده له خپل محصن والی څخه انکاروکړ مثلاً وي ویل چې ماپر خپله ښځه دخول نه دی کړی بیاپرده یوه نراودوو ښځودده داحصان گواهي ورکړه یادده دښځي له ده څخه اولادپیدا شو نوپه دي دواړوصورتونوکې به دی رجم کیږي ولی چې ثابته شوه چې دده له محصن والی څخه انکارکول صحیح نه دي لهذا داحصان دثابتیدلو په وجه به دی رجم کیږي .

بَابُ حَدِّ الشُّرْبِ

دا باب دشراب څښلو دحد په بیان کې دی

له حدالشرب څخه مراد دحرام نشه پیداکونکی شئ دڅښلو حد دی ،څرنګه چې زنا دحرام شي له څښلو څخه ډیره قبیحه ده اودهغې سزا هم دحرام شئ د څښلو له سزا څخه سخته ده ،او دشدت شهوت په وخت کې دزنا طرفته میلان کول اوپه زناکې واقع کیدل هم په نسبت دشرب محرم ډیردي ،په دي وجه یې له حدشرب څخه وړاندي حدزناذکرکړ.

(۱)مَنْ شَرِبَ خَمْرًا فَأُخِذَ وَرِيحُهَا مَوْجُودٌ (۲)أَوْ كَانَ سَكْرَانًا وَلَوْ بِنَبِيذٍ وَشَهِدَ رَجُلَانِ أَوْ أَقَرَّ مَرَّةً حُدَّ (۳)إِنْ عُلِمَ شُرْبُهُ طَوْعًا (۴)وَصَحَا (۵)فَإِنْ أَقَرَّ أَوْ شَهِدَا بَعْدَ مُضِيِّ رِيحِهَا لَا لِبُعْدِ الْمَسَافَةِ

ترجمه:چاچې شراب وڅښل بیاونیول شو په داسې حال کې چې دشرابو بوئ موجود وو ،یاهغه په نشه کې مست وو که څه هم په نبیذو باندي وي او دوو نارینه وشاهدي ورکړه یاده په خپله یوځل اقرار وکړ نو حدورکول کیږي، که دده په خوښی (رضا)سره څښل معلوم شي ،اودبیداری په حال کې وي،اوکه یې اقرار وکړ یایې شاهدي ورکړه وروسته له ختمیدلودبوئ دبعد مسافت له کبله نه ،(نوحدنه ورکول کیږي).

تشریح: (۱)که یوچا په خپله خوښه شراب (شراب دانګوروشیره ده کله چې جوش وخوري اوتیزه شي اوځګونه وکړي) وڅښل که څه هم یوه قطره وي بیاونیول شو په داسې حال کې چې دشرابو بوئ لاتراوسه موجود وو او دوو خلګو پرده باندي دشراب څښلو شاهدي ورکړه یاده یوځل دشراب څښلو اقراروکړ نوده ته حدورکول کیږي،ځکه څښل دشرابو ثابت شول اومانه هم زیاته نه ده تیره شوې، دشرابودحد پنځه شرطونه دي اول شرط دادی چې دشرابو بوئ به موجود وي په دې شرط چې ده به څښلي وي، دوهم شرط دادی چې دشراب څښلوشاهدي دوه نارینه ورکړي دښځو شاهدي معتبره نه ده .

(۲) دریم شرط دادی چې که کوم شخص نشه راوستونکی شی څښلی وي نوله هغه شئ څخه به په نشه کې مست وي که څه هم له نبیذ(یعني دانګورو ،خورما ،وغیره تازه عرق (اوبه)څخه نشه وي، دنشه

کيدلو قيديې په دي وجه معتبر کړ چې که دري په څښلو سره نشه نه شو نو حد نه ورباندي واجبيږي، په خلاف دشرابو چې په هغوکې دنشه کيدلو قيد معتبرنه دی بلکه دشرابو په لږڅښلو باندي هم حد واجبيږي، دشرابو څښل لږاو ډير سره برابردي، قوله او اقرمرة حد داعبارت داولنۍ مسئلې برخه ده.(۳) ځلورم شرط دادی چې شراب به ده په خپل اختيار څښلي وي ،نوپه نشه کې پرمست شخص به صرف په نشه کې دمست کيدو له کبله حد نه جاري کيږي ،ترڅوچې دامعلوم نه شي چې ده په خوشۍ سره څښلي دي اوکه په اکراه سره ،ځکه کيدلای شي چې ده په جبر(زور) سره شراب څښلي وي،اوچاچې په جبر(زور) شراب څښلي وي پرهغه باندي حد نشته .

(۴) قوله وصحا اى افاق من سكره ، يعني د حد پنځم شرط دادی چې شراب څښونکی به دنشې په حال کې مست نه وي، ولی چې په نشه کې مست شخص ته حد نه ورکول کيږي،ترهغه وخته پوري چې مستي يې زائله نه شي چې دحد ددرد له پيدا کېدلو څخه دحد مقصود(يعني په اينده کې له شراب خورۍ څخه منع شي)حاصل شي،حال دا چې دسختي مستۍ په حال کې د درد احساس نه کيږي له کوم څخه چې دحد مقصود فوت کيږي .

(۵) که شراب څښونکي دشرابو دبد بويې له ختمېدلو څخه وروسته اقرار وکړ يا شاهدانو شاهدي اداکړه نودشيخينو رحمهما الله په نزد حد نشته ولی چې دبوی دختمېدلو په وجه سره دا شرب قديم دی نودزنا قديم په شان په دي کې هم حد نشته، مګرشرط دادی چې دبوی ختمېدل به دبعد مسافت په وجه سره نه وي،ولی چې که دبعد مسافت په وجه سره بوی زائل شوی وو نوهغه دحد مانع نه دی،دامام محمد رحمه الله په نزد زوال دبوئ هروخت مانع دحد نه دی ،ځکه شراب خور دشراب څښلو اقرارکړی دی اودزماني په تېرېدلو باندي اقرارنه باطليږي.

ف: دامام محمد رحمه الله قول راجح دی،لمافي الشامية: وكذا يمنع الاقرار عندهما لاعند محمد ورجح في غاية البيان قوله وفي الفتح انه الصحيح قال في البحر والحاصل ان المذهب قولهما الا ان قول محمد ارجح من جهة المعنى(ردالمحتار:۳/۱۸۰)وقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد:والراجح انما هو قول محمد وعليه الفتوى(هامش الهداية:۲/۵۰۵)

(۶) او وجد منه رائحة الخمر او تقيأها(۷) او رجع عما اقر او اقر سكران بان زال عقله لا(۸) وحد السكر والخمر ولو شرب قطرة ثمانون سوطا وللعبد نصفه وفرق على بدنه كحد الزنا

ترجمه: يا پيدا شو له ده څخه بوئ دشرابو ياده شراب قی کړل،ياده له اقرارڅخه رجوع وکړه يايې په حال دنشې کې اقرار وکړپه دي شان چې دده عقل زائل شوی وو ،نوحد نه ورکول کيږي ،اودمستۍ اودشراب څښلو حد که څه هم يوه قطره وي اتيا(۸۰) دورې دی اودغلام لپاره ددي نيمی دی، اوجلا جلا به وهل کيږي دده پر بدن باندي لکه حد دزنا.

تشريح:(۶) قوله او وجد منه رائحة الخمر اى ان وجد من الماخوذ رائحة الخمر لايحد.يعني که کوم شخص په داسي حال کې ونيول شو چې دده له خولې څخه نه دشرابو بوئ راتلی اونه شاهدانو دشراب څښلو شاهدي ورکړې وه اونه په خپله ده اقرار کړی وو، همداشان که چابلا شهادته اوبلااقرار شراب قی کړل نوپه دي دواړو صورتونوکې ده ته حد نه ورکول کيږ ي ، ځکه په بوئ کې احتمال دی چې دابه له شرابو پرته دبل شي وي چې

په هغه كې حد نه شته،همداشان په څښلوكې هم احتمال كيدلاى شي چې په سبب داكراه ياپه حال اضطراركې څښلي وي چې په هغه كې حد نشته ، بس دشک له كبله حد نه وركول كيږي .

(۷) همداشان كه كوم شخص دشراب څښلو اقرار وكړ ياپه نشه كې مست شخص پرخپل ځان اقرار وكړ چې زماعقل دفلانى نشې له كبله زائل شوى دى بيايې له دغه اقرارڅخه رجوع وكړه نوپه دې دواړو صورتونو كې ده ته حد نه وركول كيږي،ځكه دا خوصرف د الله تعالى ﷻ حق دى په هغه كې رجوع كول مقبول دى ،كمامر فى حدالزنى.

(۸) دشراب څښلو اودنشې حد دازاد انسان لپاره اتيا(۸۰) دورې دي كې څه هم شراب يوه قطره څښلي وي،ځكه پردغه باندې دصحابه كرام ﷺ اجماع ده ،كه شراب خور غلام وو نودده حد څلوېښت (۴۰) دورې دي ،ځكه مرېي توب (رقيت) دنعمت او دعذاب تنصيف كوي،كمامر،اودا دورې به دحد زناپه شان پربدن باندې جلا جلا وركوي ،ځكه پريوه ځاى باندې داتيا(۸۰) درو له وهلو دهلاكت خطره ده ،كمامرفى حدالزنى.

باب حد القذف

داباب دتهمت زنا دحدپه بيان كې دى

قذف په لغت كې دډبرې ويشتلوته،اوپه شريعت كې پرچا دزناتهمت لګولوته ويل كيږي،اوقذف بالاجماع ګناه كبيره ده، حدقذف يې ترله حدشرب څخه وروسته ذكركړ وجه يې داده چې په حد دشرابو كې دشارب جرم يقيني دى حال داچې په حدقذف كې دقاذف جرم يقيني نه دى ولې چې دقاذف درښتيا ويلواحتمال شته،ددواړو په منځ كې مناسبت ثبوت دحد اود دروپه مقداركې برابري ده.

(۱) هو كحد الشرب كمية وثبوتا فلو قذف محصنا او محصنة بزنا حد بطلبه مفرقا (۲) ولا ينزع عنه غير الفرو والحشو (۳) واحصانه بكونه مكلفا حرا مسلما عفيفا عن زنا

ترجمة: هغه دشراب څښلو دحد په شان دى په مقداركې اوپه ثبوت كې ،بياكه يې تهمت ولګوى پرمحصن ياپرمحصنه باندې دزنانوحدبه وركول كيږي دهغه په طلب كولوباندې ،جلاجلا اونه به ايستل كيږي له هغه څخه دپوستين اوپونبه لرونكي څخه علاوه ، اودده احصان دده عاقل، اوبالغ، اوازاد، اومسلمان، اوله زناڅخه پاک لمنى والى دى.

تشريح:(۱) يعني دقذف حد دشرابودحد په شان دى ،په كميت اوثبوت كې ،له كميت څخه مراددادى لكه څرنګه چې په حد دشرابوكې د ازاد انسان لپاره اتيا (۸۰) دورې اودغلام لپاره څلوېښت دورې دي،همداشان په حدقذف كې هم دى چې حاكم دې هغه اتيا(۸۰) دورې ووهي ، لقوله تعالى ﴿والذين يرمون المحصنات .... فاجلدوهم ثمانين جلدة﴾ (يعني كوم خلک چې پرمحصنه ښځه باندې تهمت لګوي بياهغوئ پرخپل قول باندې څلور شاهدان نه راولي نوهغه اتيا(۸۰) دورې ووهئ) په آيت كريمة كې له، يرمون، څخه دزنا تهمت مراد دى ، په دې شرط چې مقذوف دحد قذف مطالبه وكړي ، دمقذوف مطالبه په دې وجه دحد لپاره قيدشوه چې پرقاذف باندې حدجاري كول له خپل ځان څخه دعار(پېغور) دفع كولولپاره دمقذوف حق دى،اوكه تهمت لګونكى غلام وو نو هغه به څلوېښت (۴۰) دورې وهل كيږي ، ځكه مرييتوب دنعمت

اوعقوبت تنصيف كوي ،اوله ثبوت څخه مراد دادی چې لکه څرنګه چې دشرابوحد د دوو(۲) خلګو په شاهدي ياخپله دهغه په يوځل اقرارباندي ثابتيږي همدا شان دقذف حد هم په هغو دوو امورو باندي ثابتيږي دښځو شاهدي ته اعتبار نه ورکول کيږي.

(۲) قوله متفرقا ای ضربامتفرقا علی اعضاء القاذف ،يعني دوري به دقاذف پرمختلفو اعضاوو باندي وهل کيږي، کماسبق،اوله ده څخه به جامي نه ايستلي کيږي ،ولی چې داپه حدودوکې سپک حددی په دي وجه چې ددي سبب قطعي نه دی ،ځکه دقاذف دربښتين والی احتمال شته ، البته پوستين اوله پنبوو څخه ډکې جامې به تري ايستل کيږي ، ولی چې دا شيان ددرد له رسيدلو څخه مانع دي.

(۳) دمقذوف دمحصن کيدلو پنځه شرطونه دي ، ازاد، عاقل، بالغ ، مسلمان،اوله زنا څخه به پاک وي دازادقيديې په دي وجه معتبرکړ چې محصن ته ازاد ويل کيږي کمالی قوله تعالی ﴿فعليهن نصف ماعلی المحصنات﴾ (يعني پردوئ باندي دهغي سزا نصف دی کومه چې پرازادو ښځو باندي وي) دعقل اوبلوغ قيديې په دي وجه سره معتبرکړل چې په کوچني اولېوني پوري عار(پېغور) نه ملحق کيږي ولی چې له دوئ څخه دزنا فعل نشي متحقق کيدلای ،اودمسلمان والی قيدپه دي وجه معتبرکړ چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي (من اشرک بالله فليس بمحصن) (چاچې له الله ﷻ سره شرک وکړهغه محصن نه دی) اوله زناڅخه دپاک لمن والی قيديې په دي وجه معتبرکړ ولی چې کوم څوک چې پاک دامن نه وي هغه ته په دي خبرو باندي عار(پېغور) نه دريږي اودده په حق کې قاذف رښتني هم دی.

(۴)فَلَوْقَالَ لِغَيْرِهٖ لَسْتَ لِأَبِيكَ اَولَسْتَ بِابْنِ فُلَانٍ فِي غَضَبٍ حُدَّ وَفِي غَيْرِهٖ لَا (۵) كَنَفْيِهٖ عَنْ جَدِّهٖ (۶) وَقَوْلِهٖ لِعَرَبِيٍّ يَانَبَطِيُّ (۷) وَيَاابْنَ مَاءِ السَّمَاءِ (۸) وَنِسْبَتِهٖ إِلَى عَمِّهٖ وَخَالِهٖ وَرَابِّهٖ

توجمة: بياکه چابل ته وويل ، ته دخپل پلار نه يې ياته دفلانی زوئ نه يې دغصې په حال کې نوحد ورکول کيږي اوبې له غصې نه ، لکه دده له نيکه څخه دده نفي کول ،اوکوم عربي ته ويل ای نبطي، او ای داسمان د اوبو زو ،اولکه دده نسبت کول دده داکا ياماما يادپالونکي طرفته.

تشريح:(۴)که يوچا دغصې په حال کې دبل دنسب په نفي کولوسره وويل ، ته دخپل پلار زوئ نه يې نوقاذف ته به حد ورکول کيږي ،په دې شرط چې دمقذوف مور به مسلمانه او ازاده وي ولی چې ديوچا دنسب نفي کول په حقيقت کې دهغه پرمورباندي دزنا الزام لګول دي ،ياپې دغصې په حال کې ديوچا دپلارنوم واخيست اووې ويل ، ته دپلاني زوئ نه يې نوده ته به حدورکول کيږي ،ولی چې دغصې په حال کې دښکنځاکولوپرطريقه له دي ټولو څخه حقيقي معنی مراديږي،اوکه حال دغصې نه وو نوده ته به حدنه ورکول کيږي ولی چې په داسي حال کې له دي څخه حقيقي معنی نه مراديږي،بلکه دعتاب پرطريقه ويل کيږي ګواکې دی وايې چې ته په اخلاقو او مېرانه کې دپلار په شان نه يې.

(۵) قوله کنفيه عن جده ای کمالايحد فی نفي القائل لغيره عن جده ،يعني لکه څرنګه چې بغيردغصې له حاله ديوچادنسب په نفي کولو سره نفي کونکي ته حد نه ورکول کيږي همدا شان که يوچادبل دنيکه نوم واخيست اووې ويل ته دپلاني (له پلاني څخه دده نيکه مراد دی) زوئ نه يې،نوده ته حدنه ورکول کيږي ، ولی چې قائل په خپل قول کې رښتني دی په دي وجه چې مخاطب دخپل پلار زوئ دی نه دخپل نيکه.

(۶) قوله وقوله لعربي يانبطي اى كمالايحد فى قوله لعربي يانبطي ،يعني كه څوک عربي شخص ته ووايي اى نبطي (نبطي ،عجمي اوګرانوته ويل کيږي) نوده ته به حدنه ورکول کيږي ،ولې چې له دې څخه مقصود بې اخلاقي ياپه نه فصاحت کې تشبيه ورکول دي ، دزناالزام نه دى.

(۷) قوله ويا ابن ماء السماء اى كمالايحد فى قوله ياابن ماء السماء ،يعني كه يوچابل ته وويل چې اى داسمان داوبو زويه نوقائل ته قاذف (دزناتهمت لګونکى) نه ويل کيږي ،ځکه دقائل داقول په حسن خلق اوپه سخا باندې دصفت کولو احتمال لري ولې چې دادصفايې اودسخاوت له کبله دنعمان ابن منذر دنيکه لقب دى.

(۸) قوله ونسبه الى عمه اى كمالايحد فى نسبة غيره الى عمه اوخاله ،يعني كه يوچا دبل نسبت دهغه داکا ياماما ياپلندر (دموردخاوند) طرفته وکړ نوداشخص قاذف نه دى،ولې چې په عرف کې له دوئ څخه هريوه ته پلار ويل کيږي ،مثلاًدالله تعالى ﷻ په قول (قالوا نَعْبُدُ إِلٰهَكَ وَإِلٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ) (يعني موږعبادت کوو ستادخداى اوستادپلرونو حضرت ابرهيم ﷺ اواسماعيل ﷺ اواسحاق ﷺ دخداى)کې اسماعيل ﷺديعقوب ﷺ پلار بلل شوى دى،حال داچې حضرت اسماعيل ﷺ ديعقوب ﷺ اکا وو،ولقوله ﷺ (الخال اب) (ماماپلاردى) اوپلندرته دتربيې له کبله پلار ويل کيږي.

(۹)وَلَوْ قَالَ يَا ابْنَ الزَّانِيَةِ وَأُمُّهُ مَيِّتَةٌ فَطَلَبَ الْوَالِدُ أَوِ الْوَلَدُ أَوْ وَلَدُهُ حُدَّ (۱۰) وَلَا يُطَلِّبُ وَلَدٌ وَعَبْدٌ أَبَاهُ وَسَيِّدَهُ بِقَذْفِ أُمِّهِ (۱۱) وَيَبْطُلُ بِمَوْتِ الْمَقْذُوفِ (۱۲) لَا بِالرُّجُوعِ وَالْعَفْوِ (۱۳) وَلَوْ قَالَ زَنَأْتَ فِي الْجَبَلِ وَعَنَى الصُّعُودَ حُدَّ

ترجمه: اوکه يې وويل اى دزانيې زو په داسې حال کې چې دهغه مور مړه شوې وه بيامطالبه وکړه پلار يازوئ يالمسي نوحد به ورکول کيږي ،اومطالبه نه شي کولاى زوئ له خپل پلار څخه اوغلام له خپل بادار څخه دده پرمورباندې دتهمت ويلوله کبله ،اوحدباطليږي دمقذوف دمرګ په سبب ،نه درجوع اومعاف کولو په سبب ،اوکه يې وويل، زنأت فى الجبل، اوختل يې مرادکړل نوحد به ورکول کيږي.

تشريح:(۹)كه يوچابل ته وويل چې ،ياابن زانية، (اى دزانيې زو) حال دا چې دده مورمحصنه(پاک لمنې وه)مړه شوې وه بيا ددې ښځې پلار يازوئ يالمسي دحد مطالبه وکړه نوقاذف ته به حد ورکول کيږي.ولې چې ده پريومحصنه ښځه باندې دهغې له مرګ وروسته تهمت ولګوى، نوهرشخص ته چې په نسب کې پر مړې باندې دتهمت دلګولوپه وجه پيغور پېښيږي هغه دحدمطالبه کولاى شي يعني دمقذوف اصولو اوفروعوته دمطالبې حق شته.

(۱۰) او زوئ پرخپل پلار اوغلام پرخپل بادار باندې دحدقذف جاري کولو مطالبه نشي کولاى مثلاً پلار دخپل زوئ پرمور باندې دزناتهمت ولګوى اوهغه په خپله مړه وه ، يامولى (بادار) دخپل غلام پرمور باندې دزناتهمت ولګوى، نوزوئ پرخپل پلار باندې اوغلام پرخپل مولى باندې دحدقذف جاري کولو مطالبه نشي کولاى ،ولې چې پلار اومولى ته دحق په وجه سره زوئ اوغلام سزا نشي ورکولاى همدا وجه ده چې له پلار څخه دوزئ قصاص اوله مولى څخه دغلام قصاص نشي اخيستل کېدلاى.

(۱۱) كه يوچا پربل باندې دزنا تهمت ولګوى اومقذوف دحدقذف مطالبه وکړه له حدجاري کولو وړاندې مقذوف مړشو نوحد باطليږي، ولې چې حدقذف په يوه طرز دبنده حق دى چې له هغه څخه پيغور دفع شي،اوپه بل طرز دشريعت حق دى چې دهغه په ذريعه باندې عالم له فساد څخه محفوظ شي ،

اوداحنافو رحمهم الله په نزد په دي کې دشريعت حق غالب دى لهذا په دي کې ميراث نه جاري کيږي او په خپله صاحب الحق دمطالبې اهل نه دى په دي وجه حد باطليږي.

(۱۲) قوله لابر الجوع والعفو اى لايبطل بالرجوع عن الاقرار ولا بالعفو عن القاذف، يعني که يو شخص پر بل باندي له تهمت ويلو وروسته وويل چې مادرواغ ويلي وو، ياچې پرکوم شخص باندي تهمت لګول شوى وو هغه وويل ما قاذف ته عفوه کړې ده ، نوپه دي دواړوصورتونو کې حدقذف نه معطل کيږي ولى چې په دي کې دبنده اوشريعت دواړو حق دى،نودحق عبدکيدلوپه وجه په رجوع کولوسره حدنه معافيږي اودحق شرع دکيدلوپه وجه سره دمقذوف په معافولوسره نه معافيږي.

(۱۳) که يو کس بل ته دغضب (غصې) په حال کې وويل ،زنأت فى الجبل ،اودعوه يې وکړه چې زمامراد ووچې ته پرغره باندي و ختلې،نودشيخنو رحمهما الله په نزد دده دعوه نه قبليږي ده ته به حدقذف ورکول کيږي، حال داچې د امام محمد رحمه الله په نزد ده ته حدنه ورکول کيږي، ولى چې لفظ د زنأت په همزه سره دختلوپه معنى کې حقيقت ده اودزناپه معنى کې مجاز ده ،کله چې يې له هغه سره غر ذکر کړ نو دادختلو معنى متعينه کوي ،لهذا دا دزنا تهمت نه دى،دشيخينودليل دادى چې زنات دالف په شان زنأت په همزه باندي هم دبدفعل په معنى کې ويل کيږي ، ځکه بعض عرب خفيف الف ته همزه واي لکه همزې ته چې نرم الف وايې، اودغصې حالت دبدې معنى مرادېدل متعين کوي،لهذا دتهمت دى په دي وجه به حدجاري کيږي.

ف: که يې دغضب په حالت کې ،ويلې وي نودشيخينو قول راجح دى،لمافى الدرالمختار:(او)بقوله(زنأت فى الجبل) بالهمزه فانه مشترک بين الفاحشة والصعود وحالة الغضب تعين الفاحشة .قال العلامة ابن عابدين : وان قال عنيت به الصعود (الدرالمختار مع الشامية:۳/۱۸۵)

(۱۴)وَلَوْ قَالَ يَازَانِي وَعَكَسَ حُدَّا(۱۵)وَلَوْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ يَازَانِيَةُ وَعَكَسَتْ حُدَّتْ وَلَا لِعَانَ(۱۶)وَلَوْ قَالَتْ زَنَيْتُ بِكَ بَطَلَا(۱۷)وَإِنْ أَقَرَّ بِوَلَدٍ ثُمَّ نَفَاهُ لَاعَنَ(۱۸)وَإِنْ عَكَسَ حُدَّ(۱۹)وَالْوَلَدُ لَهُ فِيهِمَا(۲۰)وَلَوْ قَالَ لَيْسَ بِابْنِي وَلَا بِابْنِكَ بَطَلَا

ترجمة:که يو شخص بل ته وويل،اى زاني،هغه دا خبره بيرته ده ته وکړه،نو دواړو ته به حد ورکول کيږي،اوکه يې خپلي ښځي ته وويل ،اى زانيه ،ښځي بيرته ده ته داخبره وکړه ، نوښځي ته حدقذف ورکول کيږي،اولعان نشته ،اوکه يې په ځواب کې ورته وويل چې ماله تاسره زنا کړې ده ، نو دواړه باطليږي. اوکه يې دزوئ اقرار وکړ بيايې هغه نفي کړ ،نولعان دي وکړي ،اوکه يې ددغه عکس وکړ نو حد قذف به ورکول کيږي،اوکوچنى دده په دواړو صورتونو کي،اوکې وويل چې دا زمازوئ نه ده اونه ستازوئ ده نودواړه باطليږي.

تشريح: (۱۴) که يو شخص بل ته وويل ،يازانى (اى زناکاره) هغه ده ته داخبره بيرته وکړه ،يعني هغه په ځواب کې ورته وويل ،لابل انت . (نه بلکه ته) نو دوئ دواړوته به حدقذف ورکول کيږي ، داول وجه خو ظاهره ده چې ښکاره تهمت يې ولګوى ،اود دوهم دحدقذف وجه داده چې د ،لابل انت،معنى ، لابل انت زان، (نه بلکه ته زانى يې) ده ، نو ځرنګه چې ده هم دزنا تهمت ولګوى ، لهذا ده ته به هم حدقذف ورکول کيږي .

(۱۵) كه يوشخص خپلې ښځې ته وويل ،يازانية، (اى زناكاري) ښځې داخبره بيرته ده ته وكړه يعني په ځواب كې ورته وويل ،يازاني(اى زناكاره) نوپرښځه باندې حدقذف جاري كيږي ،پردواړو باندې لعان نشته ،ځكه نراوښځې دواړو په خپل منځ كې يوله بله الزام لګوي ،بيادنر الزام لعان واجبوي اودښځې الزام حد واجبوي ،بس پرښځه باندې دحد جاري كولو په وجه سره لعان ساقطيږي،ولى چاته چې حد وركړل شي هغه دلعان اهل نه وي ،اودلعان په مخته كولو سره حدقذف نه باطليږي،څرنګه چې لعان دحد زناپه معنى كې دى ،لهذا دده دفع كول مطلوب دي ،بس نوددفع لعان همدا حيله ده چې پرښځې اول حدقذ ف جاري شي.

(۱۶) اوكه په مذكوره صورت كې ښځې خاوندته په ځواب كې وويل هو ماله تاسره زناكړې ده،نوحد اولعان دواړه باطليږي،په دي وجه چې ذلته په حداولعان هريوه كې شک پيداشو ،ځكه كيدلاى شي چې دښځې دي دا مراد وي چې له نكاح څخه وړاندې مې له تاسره زناكړې ده،نوپه دې صورت كې پرښځه باندې حدواجبيږي اوپرخاوند باندې لعان نه واجبيږي،ځكه ښځې دخاوندتصديق وكړ، اوكيدلاى شي چې دښځې دى مراددا وي چې زمازناخوهغه وطى ده كومې چې مې له نكاح څخه وروسته له تاسره كړې دي،ځكه كوم پردې سړي ته مې پرځان قدرت نه دى وركړى،نوپه دې صورت كې لعان واجبيږي اوپرښځه باندې حدنه واجبيږي ،ځكه دخاوند له طرفه الزام شته اودښځې له طرفه نشته ، لهذاپه دواړو كې دشک په وجه سره دواړه باطليږي.

(۱۷) كه دماشوم له زيږيدلو څخه وروسته خاوند اقراروكړ چې داماشوم له ماڅخه دى ،بيايې له هغه څخه انكار وكړ،نولعان به كوي،ولى چې اول دده له اقرارڅخه دماشوم نسب پرده لازم شو ، بياچې كله ده دماشوم دنسب نفي وكړه نوپرښځه باندې تهمت لګونكى شو ،لهذا دښځې په مطالبه كولوسره به لعان كوي.

(۱۸) قوله وان عكس حد اى لو عكس بان نفاه اولا ثم اقر بانه ولده حد .اوكه يې ددې عكس وكړ ،يعني خاوند اول دماشوم دنسب نفي وكړه بيايې اقراروكړ، نوپرخاوندبه حدقذف جاري كيږي،ولى كله چې خاوند دخپل ځان تكذيب وكړ نولعان كوم چې دنفى ولد په وجه سره لازم شوى وو هغه باطل شو،ولى چې لعان حد ضروري دى ،په دي وجه چې له زوجينو څخه هريوه له شاهدانوبغير دبل تكذيب كا وو نودمجبورۍ له كبله يې لعان كوى ،حال دا چې اصلي حدخو حدقذف وو ،بياچې كله خاوند خپل ځان دروا غجن كړ، نوددواړو طرفينو له طرفه تكذيب باطل شو ،لهذا داصلي حد (يعني حدقذف) طرف ته به رجوع كيږي.

(۱۹) اودماشوم نسب په دواړو صورتونو كې له خاوند څخه ثابتيږي ،ولى چې په دواړو صورتونو كې دخاوند له طرفه دماشوم دنسب اقرار متحقق شو ،دومره فرق شته چې په يوه صورت كې اقرار وړاندي دى اوپه بل صورت كې وروسته دى.

(٢٠) اوكه خاوند دماشوم طرف ته په اشاره كولوسره ښځي ته وويل چې دازما زوي نه دى اونه ستازوي دى،نوحد يالعان هيڅ نه واجبيږي، ولى چې ده له ولادت څخه انكار وكړ ،اونه ولادت څخه انكار له زنا څخه هم انكار دى ،لهذا دا دزناتهمت نه دى ،په دي وجه هيڅ نه واجبيږي .

(٢١) وَمَنْ قَذَفَ امْرَأَةً لَمْ يُدْرَ أَبُو وَلَدِهَا (٢٢) أَوْ لَاعَنَتْ بِوَلَدٍ (٢٣) أَوْ رَجُلًا وَطِئَ فِي غَيْرِ مِلْكِهِ (٢٤) أَوْ أَمَةً مُشْتَرَكَةً (٢٥) أَوْ مُسْلِمًا زَنَى فِي كُفْرِهِ (٢٦) أَوْ مُكَاتَبًا مَاتَ عَنْ وَفَاءٍ لَا يُحَدُّ

ترجمه:كه چاتهمت ولگوى پرداسي ښځه باندي چې دهغې دزوئ پلار معلوم نه وي،ياهغې لعان كړى وي، ياپې پرداسي شخص باندي تهمت ولگوى كوم چې په غيرملک كې وطي كړې وي ،ياپې له مشتركي مينځي سره وطي كړې وي ،يا پرداسي مسلمان باند تهمت ولگوي چې هغه دكفرپه حال زنا كړې وي ،ياپرداسي مكاتب باندي تهمت ولگوي چې هغه پوره بدل كتابت پرې پښي وي مړشوى وي، نوحدنشته .

تشريح:(٢١) دمصنف په قول،من قذف امرأة لم يدرابو ولدها الخ،كې من موصوله ده اوقذف امرأة له خپلو معطوفاتو سره صله ده ،موصول سره له صلې مبتدأ ده ،اولايحد، يې خبردى،يعني كه يوڅوک پرداسي ښځه باندي تهمت ولگوي چې دهغې دزوئ پلار معلوم نه وي ،نوپرتهمت لگونكي باندي حد قذف نشته ،ځكه له ښځي سره دبې پلاره زوئ اوسيدل دزناعلامة ده ،لهذا داښځه محصنه نه ده ، اوپرغيرمحصنه باندي دتهمت لگيدلو له كبله حدقذف نه واجبيږي،

(٢٢) همدا شان كه دكومې ښځي خاوند دهغې دماشوم دنسب له خپله ځانه په نفي كولوسره له هغې سره لعان وكړ، بياپردي ښځي باندي يوچاتهمت ولگاوو ،نوداكس قاذف نه شمارل كيږي ،ولى چې دملاعنې دماشوم نسب ثابت نه دى، نودادزناعلامة ده ،لهذا دامحصنه نه ده ،نوپردې دتهمت لگولو والاباندي حدقذف نه جاري كيږي،اوكه لعان دولد له نفي كولو ماسوادكوم بل الزام په وجه سره شوى وي ،نو ددې قاذف ته حدقذف وركول كيږي ،ځكه داښځه محصنه ده .

(٢٣) همدا شان كه كوم شخص په غيرملک كې حرامه وطى كړې وي ،نوپرده باندي تهمت لگونكي ته حدقذف نه وركول كيږي ،ځكه دزناكولو په وجه سره عفت پاتې نه شو ،لهذا داشخص محصن نه دى، اوپر غيرمحصن باندي تهمت لگونكي ته حدقذف نه وركول كيږي،ولى چې په داسي صورت كې تهمت لگونكى په خپل قول كې صادق دى.

(٢٤) همداشان كه كوم شخص له مشتركي مينځي سره وطي كړې وي ،بياپرده باندي يوچا تهمت ولگوى، نو تهمت لگونكي ته حدقذف نه وركول كيږي ،ځكه داشخص من وجه په غيرملک كې وطي كونكى دى،لهذا محصن نه دى،اوپرقاذف باندي دحدجاري كولو شرط دادى چې مقذوف به محصن وي.

(٢٥) همداشان كه يوچاپرداسي شخص باندي د زناالزام ولگوى چې هغه دكفرپه حال كې زناكړې وه ،ياپې پرداسي ښځه باندي دزنا الزام ولگوى چې هغې دكفرپه حال كې زناكړې وه ،نوپه دغه دوو صورتونو كې هم پرقاذف باندي حدنشته ،ځكه له دغه مقذوف نر اوښځي څخه دزنا صدورشوى دى،لهذا نودوئ دواړه محصن نه دي،اوپرغيرمحصن باندي پرتهمت لگونكي حدقذف نه جاري كيږي.

(۲۶) همداشان كه يوځوک پرمكاتب باندي دزناتهمت ولګوي،بيا ده دبدل كتابت په اندازه مال پرېښودی اومړشو، نو ده پرقاذف حدنه جاري كېږي،ولې چې دده په ازادي كې شبه پيداشوه،په دي وجه چې دده په ازادي كې دصحابه كرامو ﷺ اختلاف دی،چې دا ازادمړشواوكه غلام، بس دشك په وجه سره دی محصن نه شمارل كېږي.

(۲۷)وَحُدَّقَاذِفُ وَاطِئٍ أَمَتَهُ مَجُوسِيَّةً وَحَائِضٍ وَمُكَاتَبَةٍ،(۲۸)وَمُسْلِمٍ نَكَحَ أَمَةً فِي كُفْرِهِ(۲۹)وَمُسْتَأْمَنٍ قَذَفَ مُسْلِمًا(۳۰)وَمَنْ قَذَفَ أَوْ زَنَى أَوْ شَرِبَ مِرَارًا فَحُدَّ فَهُوَ لِكُلِّهِ

ترجمه: اوحدوركول كېږي له مجوسي مينځي،اوحائضې ښځې،اومكاتبې،سره وطي كونكي باندي تهمت لګولو والاته،اوپرداسې مسلمان باندي تهمت لګولو والاته چې هغه دكفرپه حال كې له مورسره نكاح كړې وي،اوداسي مستأمن ته چې هغه پرمسلمان باندي تهمت لګولی وي،اوكه چاتهمت لګولی وي،يايې زناكړې وي،يايې شراب څښلي وي،دېرڅله بيا حدوركړل شي نوداحد دټولو لپاره كفايت كوي.

تشريح: (۲۷) كه كوم شخص له مجوسي مينځي سره ياله خپلي حائضې ښځې سره ياله مكاتبې مينځې سره جماع (وطي) كړې وي بياپرده باندي يوځوک دزناتهمت ووای نوپه دغه دري سره صورتونوكې به پرقاذف حدجاري كېږي،ولې چې په دي دريو صورتونوكې له قيام ملک سره سره دوطي حرمت يوموقت حرمت دی،يعني په مجوسه كې سبب دحرمت مجوسيه كيدل دی،اوپه حائضه كې حيض دی،اوپه مكاتبه كې مكاتبه كيدل دی،لهذا داحرمت لعينه نه دی بلكه لغيره دی،اوقاعده ده چې كه كوم شخص مرتكب دوطي حرام لعينه وو دده قاذف ته حدنه وركول كېږي،اوكه كوم شخص مرتكب دوطي حرام لغيره وو دده قاذف ته حد وركول كېږي.

(۲۸) قوله ومسلم نكح امة ای وحدقاذف مسلم نكح امة،يعني كه يوشخص پرداسي مسلمان باندي دزنا تهمت ولګوي چې هغه په حال دكفركې له خپلي مور سره نكاح كړې وي، نوپه دې صورت كې هم دامام ابوحنيفه ﷬ په نزد قاذف ته حدقذف وركول كېږي،حال دا چې دصاحبينو په نزد حدنه وركول كېږي، دا اختلاف پردې خبره بنادی چې دامام ابوحنيفه ﷬ نزد دمجوسيانو نكاح كول له ابدي محرماتوسره په دارالحرب كې صحيح ده ، لهذا داشخص محصن دی دده قاذف ته حد وركول كېږي،اودصاحبينوپه نزد نكاح نه ده صحيح لهذا داشخص محصن نه دی دده قاذف ته حد نه وركول كېږي،

(۲۹) قوله ومستامن قذف مسلما ای حدمستامن قذف مسلما،يعني كه كوم حربي كافر امن واخلي دارالاسلام ته راشي بيادلته پريو مسلمان دزنا تهمت ولګوي نوپرده باندي حدقذف جاري كېږي،ځكه حدقذف دبنده حق دی،اوحربي چې دلې راغلی نوده پرخپل ځان دبندګانو دحقوقو دپوره كولو التزام كړی دی،په دي وجه له ده څخه دبنده حق (يعنی حدقذف) وصول كېږي،پاته حد دشرابو ياحد دزنا وغيره پرده باندي نه جاري كېږي.البته پرذمي باندي داټول حدود جاري كېږي.

(۳۰) كه يوشخص څوځله پريو چاباندي دزناتهمت ولګوي ياڅوځله زناوكړي ياڅوځله شراب وڅښي بياپرده باندي يوځل حدجاري شي نوڅومره ځله چې يې دا عمل كړی وي دا حد دهغوئ ټولو لپاره

كاني كيږي،ځكه په حدودوكې تداخل كيږي،ليكن كه فعل مختلف وو مثلازنايې وكړه بيايې شراب وڅښل يايې پريوچادزناتهمت ولګوى بيايې غلا وكړه نوپه دغوصورتونو دحدودو تداخل نه كول كيږي.

فَصْلٌ فِي التَّعْزِيرِ

دافصل په بيان دتعزيركي دى

تعزيرپه لغة كې مطلق تاديب(ادب وركولو) ته ويل كيږي ،اوپه شريعت كې هغه تاديب(ادب وركولو) ته ويل كيږي كوم چې له حدڅخه كم وي ،مصنف رحمه الله چې له زواجرمقدره (يعني حدودو) څخه فارغ شو ،نود زواجر غيرمقدره (يعني تعزير) په بيان يې شروع وكړه.

(۱) وَمَنْ قَذَفَ مَمْلُوكًا أَوْ كَافِرًا بِالزِّنَا أَوْ مُسْلِمًا بِيَا فَاسِقُ يَا كَافِرُ يَا خَبِيثُ يَا لِصُّ يَا فَاجِرُ يَا مُنَافِقُ يَا لُوطِيُّ يَا مَنْ يَلْعَبُ بِالصِّبْيَانِ يَا آكِلَ الرِّبَا يَا شَارِبَ الْخَمْرِ يَا دَيُّوثُ يَا مُخَنَّثُ يَا خَائِنُ يَا ابْنَ الْقَحْبَةِ يَا زِنْدِيقُ يَا قَرْطَبَانُ يَا مَأْوَى الزَّوَانِي أَوْ اللُّصُوصِ يَا حَرَامْزَادَهْ عُزِّرَ

ترجمه:اوڅوک چې تهمت ولګوي پرغلام ياكافرباندې دزنايايومسلمان ته ووايې چې اى فاسقه ،يااى كافره،يااى خبيثه ،يااى غله ،يااى فاجره،يااى منافقه،يااى لوطى ،يااى له كوچنيانوسره بازى كونكې،يااى سود خوره ،يااى شراب خوره،يااى ديوثه ،يااى نرښځييه ،يااى خائنه ،يااى درنډى زوى اى زنديقه ،يااى بېغيرته،يااى دزانيانويادغلواډې،يااى حرامي،نوپردې ټولو به تعزيروركول كيږي.

تشريح: كه چا پرمينځه ياغلام ياكافرباندې دزناتهمت ولګوي ، نوقاذف ته به حدنه وركول كيږي، ځكه دامذكوره افراد ټول غيرمحصنين دي اوپرغيرمحصن باندې تهمت ويونكي ته حد نه وركول كيږي،البته قاذف ته تعزير وركول كيږي، ځكه ده پر مذكوره افرادو داسې تهمت ولګوى چې دشريعت له جانبه پرهغه باندې كوم حد نه دى مقرر شوى،اوكه كوم شخص پرمحصن مسلمان له زنا پرته كوم بل الزام ولګوي ،مثلاورته وي ويل ،اى فاسقه، يااى كافره ،يااى خبيثه، يااى غله ،يااى فاجره ،يااى منافقه، يااى لواطت كونكې، يااى له كوچنيانوسره بازى كونكې،يااى سود خوره ، يااى شراب خوره ، يايې وويل اى ديوثه ،(ديوث هغه شخص ته ويل كيږي چې په خپله ښځه باندې زنا كوي،ياهغه ته ويل كيږي چې دخپلې ښځې په بدكارۍ باندې غيرت نه ورځي) يايې ورته وويل چې اى نرښځى يه ، يااى په امانت كې خيانت كونكې،يااى درنډى زو، يااى بې دينه،يااى دوثه (قرطبان د ديوث مرادف دى) يايې ورته وويل اى دزناكارانواډې،يااى دغلواډې، يااى حرا م زاده ،نوپه دا ټولو صورتونوكې هم الزام لګونكي ته تعزير وركول كيږي،ځكه ده په دامذكوره الفاظو پرمسلمان باندې داسې عيب ولګوى چې په شريعت كې دهغه حد نشته ،لهذا تعزير وركول كيږي.

ف:دتعزيرپه باره كې قاعده داده ، چې كه قائل دمخاطب طرف ته داسې فعل اختياري منسوب كړكوم چې شرعاًحرام وي ياعرفادعار(شرم)باعث وي نوقائل ته به تعزيرور كول كيږي الاداچې هغه صريح درواغ وي لكه يوچاته كارغه ،سپى ويل صريح درواغ دي.

(۲) لَا بِيَا كَلْبُ يَا تَيْسُ يَا حِمَارُ يَا خِنْزِيرُ يَا بَقَرُ يَا حَيَّةُ يَا حَجَّامُ يَا بِغَاءُ يَا مُؤَاجِرُ يَا وَلَدَ الْحَرَامِ يَا عَيَّارُ يَا نَاكِسُ يَا مَنْكُوسُ يَا سُخْرَةُ يَا ضُحْكَةُ يَا كَشْخَانُ يَا أَبْلَهُ يَا مُوَسْوِسُ يَا مَنْحُوسُ لَا

ترجمة: اواى سپيه ،اواى منده ،اواى خره ،اواى خنزيره،اواى غوييه ،اواى ماره ،اواى رزيله ، اواى بدكاره، اواى پرزنامزدوري اخيستونكي، اواى حرامي،اواى عيار،اواى سرټيټي،اواى بې عقله،اواى مسخري،اواى پسخندوهونكي،اواى بې شرمه ،اواى بې وقوفه ، اواى خطاايستونكي، اواى منحوس، ويلوكي تعزير نشته .

تشريح:(٢) قوله وبيا كلب اى لوقذف مسلما بقوله يا كلب،يعني كه يوه شخص بل ته وويل ، اى سپيه ،ياای منده ياای خره ياای خنزيره ياای غوييه ياای ماره ياای حجامه(رزيله)ياای بدكاره مخنثه ياای پرزنا مزدوري اخيستونكي ياای حرامي يااو اواره يااوسرنګون ياادوباره بيمارهوني والا يا اومسخرى يااوپسخندوهونكي(چې دده پركپوخلګ خاندي) ياای بې غيرته ياای بې وقوفه يااو ورغلاني والی(شيطان) يااومنحوس،نودده غوالفاظو ويونكي ته به تعزير نه وركول كيږي ځكه ده پر هغه باندي كوم عيب نه دی لګولی،ځكه دا يقيني ده چې هغه شخص خروغيره نه دی،لهذا دا دصريح درواغ كيدو په وجه سره په هغه پوري كوم عيب نه دی ملحق شوی،په دي وجه ويلو والاته حد نه وركول كيږي، يوقول دادی چې چرنګه چې په عرف كې دا بنكنځل بلل كيږي په دي وجه ده ته تعزير وركول كيږي، دځينوحضراتو رائ داده چې كه يې په دي الفاظو سره كوم شريف شخص مخاطب كړي نو تعزير به وركول كيږي ځكه شريف شخص په دغه الفاظو باندي وحشت محسوسوي، اوكه يې كوم عام شخص ته دا سي الفاظ استعمال كړل نوتعزير به نه وركول كيږي .

(٣)وَأَكْثَرُ التَّعْزِيرِ تِسْعَةٌ وَثَلَاثُونَ سَوْطًا وَأَقَلُّهُ ثَلَاثَةٌ(٤)وَصَحَّ حَبْسُهُ بَعْدَ الضَّرْبِ(٥)وَأَشَدُّ الضَّرْبِ التَّعْزِيرُ ثُمَّ حَدُّ الزِّنَا ثُمَّ الشُّرْبِ ثُمَّ الْقَذْفِ

ترجمة: اودتعزير زياته اندازه نه دېرش(٣٩)دُري ده،اوكمه اندازه يې دري (٣)دُري ده، اوصحيح دی دده بندي كول ورسته تر وهلو ،اوترټولو سخت وهل دتعزير دي،بيادحدزنا، بيادشرابو دڅښلو، بيادحد قذف

تشريح:(٣) مصنف رحمه الله فرمايي چې دتعزير زياته زياته اندازه نه دېرش (٣٩) دري ده، په دي وجه چې په حدقذف كې دغلام حدڅلوېښت (٤٠) دري دي ،نودتعزيرلپاره زياته اندازه نه دېرش (٣٩) دري مقرري شوي چې ترحد پوري ونه رسيږي،دادطرفينو رحمهما الله مذهب دی، امام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې تعزير تر پنځه اويا (٧٥) دروپوري رسيدلای شي ،ولی چې دا له حضرت علي رضي الله عنه څخه منقول دی،اوكمه اندازه دتعزير دري (٣) دري دي ،ليكن كله كله تردغه په كم باندي هم مقصود حاصليږي ، لهذا صحيح داده چې كمه اندازه دتعزير دقاضي رأي ته مفوض دی.

ف: دطرفينو قول راجح دی، لمافی ردالمحتار: وفي الحاوي القدسي قال ابويوسف واكثره في العبد تسعة وثلاثون.......وبه ناخذ فعلم ان الاصح قول ابی يوسف ،بحر قلت ......ولايلزم من هذا ترجيح قوله على قولهما الذی عليه متون المذهب مع نقل العلامة قاسم تصحيحه عن الأئمة.(ردالمحتار:١٩٤/٣)

(٤) كه امام په باب دتعزيركې له دروسره دمجرم بندي كول مناسب وګڼل نوبندي دي هم كړي ولی چې مقصود تأديب دی.نوكه د امام دا رأيه وه چې ادب صرف په وهلو باندي حاصلېدلای شي نوپه وهلو دي اكتفا وكړي. اوكه نه نوبندي دي هم كړي .

(۵) د درو په وهلو کې تر ټولو سخت وهل په تعزیر کې دي ولې چې په ده کې د درو د شمار په اعتبار سره تخفیف کړل شوی دی نو په وهلو کې به سختي کیږي چې مقصود فوت نه شي، بیا له تعزیر څخه وروسته په حد زنا کې سختي ده، ولې چې زنا د پرغټ جرم دی، حتی په زنا کې رجم چې سخته سزا ده هم مشروع ده، بیا په د شراب و په حد کې سختي ده، ولې چې د دې حد سبب (یعنی شراب څښل) یقیني دی، بیا د حد قذف درجه ده ولې چې د دې سبب یقیني نه دی، ځکه چې کیدلای شي چې الزام لګونکی دې رښتیا وایي.

(٦) وَمَنْ حُدَّ أَوْ عُزِّرَ فَمَاتَ فَدَمُهُ هَدَرٌ (٧) بِخِلَافِ الزَّوْجِ إِذَا عَزَّرَ زَوْجَتَهُ لِتَرْكِ الزِّينَةِ وَالْإِجَابَةِ إِذَا دَعَاهَا إِلَى فِرَاشِهِ وَتَرْكِ الصَّلَاةِ وَالْغُسْلِ وَالْخُرُوجِ مِنَ الْبَيْتِ

ترجمه: او چا ته چې حد ور کړل شي یا تعزیر ورکړل شي بیا هغه مړ شي نو وینه یې هدر ده، په خلاف د خاوند چې هغه تعزیر ورکړي خپلې ښځې ته د ترک زینت په سبب یا د خبرې د نه منلو په وجه چې هغه یې راوبولي خپلې بسترې ته یا د لمانځه او غسل پر ترک باندې یا له کور څخه پر وتلو باندې

تشریح: (٦) کوم شخص ته چې امام حد یا تعزیر ورکړي چې دی له هغه څخه مړ شي نو دده وینه مفته ده یعنې د هغه هیڅ دیت یا قصاص نشته، ولې چې امام د شریعت له طرف څخه پر دې کار باندې مأمور دی، او د مأمور فعل مقید په شرط د سلامتي سره نه وي.

(٧) البته که خاوند خپلې ښځې ته پر ځان نه ښایسته کولو یا خبره نه منلو چې هغه یې راوبولي بسترې ته، یا د لمانځه پرنه کولو یا د غسل پرنه کولو یا له کور څخه پر وتلو باندې تعزیر ورکړي، او هغه مړه شي، نو پر ده باندې دیت لازم دی، ولې چې د خاوند لپاره ښځې ته تعزیر ورکول جائز دی، او جواز د فعل مقید په قید د سلامتي سره وي، لکه پر لاره باندې تلل جائز دي لیکن په شرط د سلامتي سره مقید دي.

د مالي جرمانې شرعي حکم، مالي جرمانه د احنافو رحمهم الله په نزد جائز نه ده، او که د تنبیه په غرض کوم مرتکب د کبیرې یا بې لمانځه ته داسې جرمانه ورکول کیږي، نو د جواز صورت یې دا دی، چې دا جرمانه دې علیحده کېښودل شي، بیا دې یو وخت پېرته هغه شخص ته ورکړل شي له کوم چا څخه چې اخیستل شوې وه، یا دې د هغه په اجازه د خیر په کار کې مصرف کړای شي، لمافي الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر: لاباخذالمال في المذهب ,بحر, وفیه عن الاوازية وقيل يجوز ومعناه ان يمسكه مدة لينزجر ثم يعيده اليه الخ (فتاوی دارالعلوم دیوبند: ۱۲/ ۲۳۵)

كِتَابُ السَّرِقَةِ

دا کتاب د سرقې په بیان کې دی

سرقه په لغت کې د یو چا یو شی په پټه بې له اجازته را اخیستلو ته ویل کیږي، که هغه مال وي او که غیر مال، او د شریعت په اصطلاح کې سرقة (چې پر هغې حکم شرعي یعنې پرې کېدل د لاس مرتب وي) دا ده چې کوم عاقل بالغ د یو چا محفوظ مال چې په اندازه د لس درهمو یا زیات وي په پټه واخلي، له ماقبل سره وجه

دمناسبت داده ، چې له حدود و څخه مقصود دځان او عقل او عزت ساتنه ده ، له دي دريوواړو سره متعلق سزاګانې له نفس سره متعلق مزاجرات دي ،نو مصنف رحمه الله له هغومزاجراتو څخه فارغ شو چې دنفوسو له ساتنې سره يې تعلق وو ،نو شروع يې وکړه په هغه مزاجراتو باندي چې داموالوله ساتنې سره يې تعلق دی، ځرنګه چې نفس اصل دی ترمال په دي وجه يې هغه مقدم کړ کوم چې له نفس سره تعلق لري.

(۱) هِيَ أَخْذُ مُكَلَّفٍ خُفْيَةً قَدْرَ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ مَضْرُوبَةٍ مُحْرَزَةٍ بِمَكَانٍ أَوْ حَافِظٍ (۲) فَيُقْطَعُ إِنْ أَقَرَّ مَرَّةً أَوْ شَهِدَ رَجُلَانِ (۳) وَلَوْ جَمَعَا وَالْآخِذُ بَعْضُهُمْ قُطِعُوا إِنْ أَصَابَ لِكُلٍّ نِصَابٌ

ترجمة: هغه دمکلف په پټه طريقه اخيستل دي په اندازه دلس درهموآراسته شوي کوم چې محفوظ وي دمکان ياچوکيدار په ذريعه باندي ،نولاس يې پرې کيږي که اقرار وکړي يو ځل ياشاهدي وواي دوه خلګ .اوکه غلا کونکي يو جماعت وي او اخيستلو والابعض وي نو دټولو لاسونه پرې کيږي که مسروقه مال هريوه ته په اندازه دنصاب رسيدی.

تشريح: مصنف رحمه الله دسرقې (غلا) شرعي تعريف داسي کړی دی، که کوم مکلف انسان مضروبة لس دراهم يا زيات له يومحفوظ ځای څخه يادچاله پهرې څخه په پټه طريقه سره ويسې دې ته سرقه وايې،ځرنګه چې له سرقې څخه دلته هغه سرقه مراد ده چې دلاس پرې کېدلورباندي مرتب وي ، نو دمکلف په قيدسره غيرمکلف خارج شو، ځکه جنايت بغير له تکليف څخه نه وي، اودلاس پرې کيدل دجرم سزا ده،دخفية په قيدباندي غصب خارج شوولی چې په غصب کې مال په پټه نه وړل کيږي ، او دلس درهمويازياتو په قيد سره احتراز راغی له هغه چې له لس درهمو څخه کم مال راواخلي نوپه دغه کې دلاس پرې کيدل نشته ،ځکه چې له عبد الله ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت شوی دی چې درسول الله ﷺ په زمانه کې به لاس ديوه ډال (سپر)په قيمت پرې کيدو ،اوپه هغه وخت کې دډال قيمت لس درهمه وو .

دجوړ والي په قيد سره له هغه صورت څخه احتراز وشو چې که يوچا دلس درهمو برابر دسپينوزرو داسې ټوټې غلا کړې چې دهغه قيمت له لس درهمو څخه کم وي نودده لاس نه پرېکيږي، دمحفوظ مکان ياچوکيدار څخه دوړلو په قيد سره له غيرمحفوظ مال څخه احترازوشو ، ځکه په خفيه طريقه دمال وړل بې له محفوظ کيدلو څخه نه شي کيدلای ، اودا شرط هم دی چې په محفوظ کيدلو کې به شبه نه وي ځکه شبه حد دفع کوي .

ف: مګر دادي نه فهمول کيږي چې که په مذکوره شرائطو کې يوشرط نېستي شي نوغله ته به پوره ازادي ورکول کيږي، بلکه حاکم وخت دخپلې رأي مطابق ده ته تعزيري سزا ورکولای شي، کومه چې دجسماني دروسزاهم کيدلای شي،اودا دي هم نه فهمول کيږي چې په کوموصورتونو کې دغلا يوشرط نه شي موجودچې دهغه په وجه سره حدساقط شي نودده لپاره دا کار(غلا)جائز اوحلال شو، ځکه چې حدخو صرف دنيوي سزا ده اخروي سزاله دې څخه علاوه ده ، نودنيوي سزا له سقوط څخه دانه لازميږي چې بله سزادي هم ساقطه شي .

ف: احناف رحمهم الله فرمايي چې دمال هغه مقدار چې دهغه په غلا كولو باندې دغله لاس پرې كيږي هغه دادى چې لس درهمه (۳۰۴۰۲گرام سپين زر) غلاكړي يادلس درهمو ياله هغه څخه دزيات قيمت كوم شى غلاكړي، يا يو دينار (۴۰۸۶گرام سره زر) غلاكړي يادېوه دينار ياله هغه څخه دزيات قيمت شى غلاكړي.

(۲): كه غله يو ځل دغلا اقرار وكړ نودطرفينو رحمهم الله په نزد دده لاس پرې كيږي ځكه چې غلا په يو ځل اقراركولو باندې ظاهره شوه لهذا دقصاص اوحد قذف په شان يو ځل اقراركافي دى، همداشان كه دو شاهدانو دغله دغلا شاهدي وركړه نوهم دغله لاس پرېكيږي، لكه چې په نورو حقوقو كې، اودزيات احتياط لپاره دي امام له شاهدانو څخه دغلا دماهيت اوكيفيت اودزمان اومكان اودمال مسروقه اودمسروق منه په باره كې پوښتنه وكړي ترڅوپه يودول دحد ددفع كولو حيله پيدا شي، دامام ابويوسف رحمه الله په نزد دغله دوه ځله اقراركول ضروري دى، ځكه په دې كې حد دى، لهذا داقرار تعداد په اندازه دشاهدانو ضروري دى.

ف: دطرفينو قول راجح دى دامام ابويوسف رجوع هم ددوئ قول ته ثابته ده، لمافى الدرالمختار: (فيسقط ان اقربهامرة) واليه رجع الثانى. قال ابن عابدين: (قوله واليه رجع الثانى) اى ابويوسف وكان اولا يقول لايقطع الا اذااقر مرتين فى مجلسين مختلفين كمافى الزيلعي (الدرالختار مع الشامية: ۳/۲۱۳)

(۳) قوله ولوجمعاوالآخذبعضهم قطعوااى لوكان السراق جماعة والآخذبعضهم قطعوا، يعني كه په غلاكولو كې يوجماعت شريك شو مګرمال له دوئ څخه بعضوراپورته كړ اوپرټولو يې تقسيم كړ نوكه هريوه ته له مسروقه مال څخه لس درهمه رسيدل ياهريوه ته دونه مال رسيدوچې دهغه قيمت لس درهمه وو نودهريوه لاس به پرېكيږي، اوكه هريوه ته له لس درهمه څخه كم رسيدو نو ديوه لاس به هم نه پرېكيږي، ځكه چې دنصاب په اندازه (لس درهمه) غلا كول موجب دحد دى، نودهريوه په حق كې كمال نصاب معتبردى، لهذا له نصاب څخه دكم رسيدلو په صورت كې دلاس پرېكيدل نشته.

(۴) وَلَا يُقْطَعُ بِخَشَبٍ وَحَشِيشٍ وَقَصَبٍ وَسَمَكٍ وَطَيْرٍ وَصَيْدٍ وَزِرْنِيخٍ وَمَغْرَةٍ وَنُورَةٍ (۵) وَفَاكِهَةٍ رَطْبَةٍ اَوْ عَلَى شَجَرٍ وَلَبَنٍ وَلَحْمٍ وَزَرْعٍ لَمْ يُحْصَدْ (۶) وَأَشْرِبَةٍ وَطُنْبُورٍ (۷) وَمُصْحَفٍ وَلَوْ مُحَلًّى وَبَابِ مَسْجِدٍ (۸) وَصَلِيبِ ذَهَبٍ (۹) وَشِطْرَنْجٍ وَنَرْدٍ وَصَبِيٍّ حُرٍّ وَلَوْ مَعَهُ حُلِيٌّ (۱۰) وَعَبْدٍ كَبِيرٍ وَدَفَاتِرَ

ترجمه: اولاس نه پرېكيږي په لرګي، اوپه وابنه، اوپه نلانو، اوپه ماهي، اوپه مارغه، اوپه هرتال، اوپه ګيرو، اوپه چونه، اوپه لنده ميوه، ياپرونه باندې موجوده ميوه كې، اوپه شيدو، اوپه غوښه، اوپه كښت چې هغه نه وي ريبل شوى، اوپه څښونكو، اوپه ستار، اودقرآن مجيد په غلاكې كه څه هم په زيور ښايسته شوى وي، اوله دروازې دمسجد، اودسروزرو دصليب، اودشطرنج، اودنرد، اودازادكوچني په غلاكولو كې كه څه هم له هغه سره زيور وي، اودلوى غلام، اودفاترو (كتابچو) په غلا كولو كې.

تشريح: (۴) كوم شى چې په دارالاسلام كې په مباح طريقه حقير موندل كيږي دهغه په پورته كولو باندې دپورته كونكى (غله) لاس نه پرېكيږي، لكه دسون لرګي يانالان ياوابنه ياماهي يامارغه ياهغه حيوان كوم چې ښكاركيږي ياهرتال ياګيرو ياچونه، ځكه كوم شى چې پرخپل اصلي صورت مباح پيداكيږي په هغه كې رغبت كم وي، نوپه دې وجه دحدزاجر دمقرركولو ضرورت نشته، اوپه داسې شيانو كې حفاظت هم ناقص

وي .په دې وجه په دوئ کې قطع دلاس نشته ،هړتال ديوقسم زهريلي معدني جوهر دی ،اوګيرو يوقسم سره خاوره ده .

(۵) قوله وفاكهة اى لاقطع فى سرقة فاكهة رطبة .کوم شی چې زرخرابيږي يعني تريوکال پوري نه شي پاته کيدلای نودداسي شئ دغلاکولو په صورت کې دغله لاس نه پري کيږي،لکه لنده ميوه ،ياپر درخته باندي ميوه ،ياشيدې ياغوښه ،ياهغه کښت چې تراوسه لاربيل شوی نه وي ،وغيره،ځکه پيغمبر ﷺ فرمايلي دي ﴿لاقطع فى الطعام﴾ (يعني په خوراک کې دلاس قطع نشته) اودخوراک معنی په مايتسارع اليه الفساد (هغه شی کوم چې ژر خرابيږي) سره شوي ده ،ولی چې دغنمو اودشکر په غلاکولو کې بالاجماع دلاس قطع کول شته ،اوهغه کښت چې تراوسه پوري ربېل شوی نه وي دهغه دغلاکولو په صورت کې دلاس قطع کول نشته،ځکه کښت محفوظ مال نه دی،حال دادی چې دلاس دپريکيدلو لپاره داشرط دی چې مال به محفوظ وي .

(۶) قوله واشربة اى لاقطع فى سرقة اشربة. يعني په نشه راوستونکو شربتانو کې قطع دلاس نشته ، ځکه چې نشه راوستونکي شيان ځيني مال نه دي اوځينو په ماليت کې اختلاف دی،نودعدم ماليت شبه پيداشوه لهذا دهغه په غلاکولو کې دلاس قطع کول نشته ،همداشان دطنبور(ستار) اودټولوآلات الهو په غلاکولو کې هم دلاس پريکيدل نشته، ځکه کيدلای شي چې دنهي عن المنکر په نيت يې وړی وي، لهذا په غلاکې شبه پيداشوه په دې وجه قطع يد نشته .

(۷) قوله مصحف ولومحلى اى لاقطع فى سرقة مصحف ولوكان محلى بحلية قدرنصاب .يعني دقرآن مجيد په غلاکولو کې هم دلاس پريکيدل نشته ،ځکه دوړلو والادا تأيل کوي چې ما دتلاوت په نيت وړی دی ،که څه هم پرقرآن مجيد باندي دنصاب په اندازه سره ياسپين زرپوښل شوي وي ،ولی چې سره اوسپين زر تابع دي اودتابع اعتبار نشته ،همدا شان دمسجد ددروازې په غلاکولوکې دلاس قطع کول نشته ،ولی چې دمسجد دروازه مال غيرمحفوظ دی اوپه غيرمحفوظ مال کې دلاس قطع کول نشته.

(۸) قوله وصليب ذهب اى لايقطع فى صليب ذهب ،دسرويادسپينوزرو دصليب په غلاکولو کې هم قطع دلاس نشته ولی چې دصليب ماتول شرعاًجائزدی نوغل تاويل کوي چې مادماتولو په نيت راپورته کړی دی.

(۹) همداشان دشطرنج او نرد په غلاکولو کې هم قطع دلاس نشته ځکه دا له الآتو دلهو څخه دي ،په کوم کې چې قطع نشته ، کمامر ،همداشان که څوک ازاد کوچنی غلاکړي نودغله لاس نه پريکيږي که څه هم پرهغه باندي دنصاب په اندازه زيور وي،ځکه کوچنی مال نه دی اوزيور دهغه تابع دی لهذا دغله لاس نه پريکيږي.

ف:شطرنج په کسره دشين سره دادسنسکرت لفظ دی کوم چې په اصل کې له چترنګ څخه معرب دی،په هندستان وغيره کې يومشهوربازی ده، په کوموکې چې په شپږقسمه ګټيوسره بازی کيږي ، کوموته چې

شاه ،فرزين، فيل،اسپ،رخ، او پيدل ويل كيږي ،نردچوسر :يوقسم بازى ده كومه چې اردشيرين بابک ايجادكړي وه.

لطيفه :تقدم اثنان الى ابى صمصامة فادعى احدهما على الآخر طنبورا فانكر فقال لمدعى الك بينة؟ فقال لى شاهدان فاحضر رلين فشهد اله فقال المدعى عليه سلهما ياسيدى عن صنعتهما ,فاخبر احدهما انه نباذ وقال الآخر انه قواد,فالتفت القاضى الى المدعى عليه وقال ، أتريد على طنبور اعدل من هذين ادفع اليه طنبوره.(المستطرف)

(۱۰) قوله وعبد كبير ودفاتر اى لايقطع في سرقة عبد كبير ولى سرقة دفاتر ،يعني كه كوم څوک بالغ غلام غلاكړي نو په دغه كې دلاس قطع كيدل نشته ، ځكه غلام بالغ دى اوبالغ خوپه خپله قبضه كې وي،لهذا دده غلاكيدل غلانه بلل كيږي بلكه غصب بلل كيږي ،اودغاصب لاس نه پريكيږي ،همداشان دهر دول دفتر(رجسټر) په غلاكولوكي دلاس قطع كيدل نشته ،ځكه ددفتر(رجسټر) په غلاكولوكې مقصود په دفتركې موجود خط وي اوخط خومال نه دى لهذا دغله لاس نه پريكيږي ،

ف:خلاصه دا چې په اتو(۸) وجهوسره له غله څخه دلاس قطع ساقطيږي ،(۱) مسروق كوم حقير بيكاره شى وي لكه لرګي وابنه وغيره (۲) كوم چې په خپل اصلي حالت كې مباح الاصل پيداكيږي لكه ماهى مارغه وغيره (۳) هغه شى كوم چې ژرخراپيږي تريوه كاله پوري نه شي پاته كيدلاى لكه ميوه اوژرخرابيدونكي دخوراک شيان (۴) كوم چې محفوظ نه وي لكه كښت (۵) شرعاًچې دكوم شي ضائع كيدل مباح (روا) وي لكه اشربة او دلهوي الآت(۶) هغه شيان چې په هغوئ له غلاپرته دبل شي تاويل كيدلاشي لكه قرآن مجيد وغيره (۷) چې مسروق شى مال نه وي لكه ازاد كوچنى (۸) هغه شى چې دهغه غلاكيدل غلانه بلل كيږي لكه دبالغ غلام وړل.

(۱۱) بِخِلَافِ الصَّغِيرِ وَدَفَاتِرِ الْحِسَابِ (۱۲) وَكَلْبٍ وَفَهْدٍ وَدُفٍّ وَطَبْلٍ وَبَرْبَطٍ وَمِزْمَارٍ (۱۳) وَبِخِيَانَةٍ (۱۴) وَنَهْبٍ وَاخْتِلَاسٍ (۱۵) وَنَبْشٍ (۱۶) وَمَالٍ عَامَّةٍ (۱۷) أَوْ مُشْتَرَكٍ وَمِثْلِ دَيْنِهِ (۱۸) وَبِشَيْءٍ قُطِعَ فِيهِ وَلَمْ يَتَغَيَّرْ

ترجمة :په خلاف دنابالغ او دحساب په دفترونو(كتابچو) كي (چې په هغو كې لاس پريكيږي)،او په سپي او پړانګ او ډهول اوسارنګى اومرلى ،او په خيانت كولو ،اوپه لوټ كولو اوپه مخامخ يوشئ ځغلولو،او په كفن غلاكولوكې ،او دعاموخلكو په مال ،يادمشترک مال كې اودخپل قرض په اندازه ،او دداسې شي په غلاكولو كي چې په هغه كې لاس پري شوى وي اوهغه متغيرشوى نه وي.

تشريح :(۱۱)كه يوچانابالغ غلام غلاكړنوپه دي كې قطع يدشته ولى چې دامال دى دځاروى په شان ده لره په خپل ځان قبضه نشته نوپردي دسرقي تعريف صادقيږي لهذادسارق لاس به پري كيږي .اوكه چادحساب رجسټر (دكوموچې حسابونه تيرشوي وي)غلاكړل نودده لاس به پري كيږي ولى ځ په دي كې مقصودتحريرنه دى بلكه ورقي دي نوكه ددي قيمت دلس درهموپه اندازه وونودغله لاس به پري كيږي.

(۱۲)قوله وكلب وفهدودف الخ.داپر هغوشيانو عطف دي په كومو كې چې قطع يد نشته ،يعنى دسپي او پړانګ دغلا كونكى لاس نه پري كيږي ولى چې ددوى له جنس څخه مباح الاصل پيداكيږي لهذا په دوئ كې درغبت دكم والى په وجه سره ددوئ په غلاكولو كې دحدزاجرضرورت نشته،او همداشان دف(په يوه

لاس سره دوهلو والاشيانو څخه ديوسازنوم دی)ډهول ،سارنګي ،اودمرلی په غلاکولو کې هم قطع يد نشته ولی چې دا آلات دلهو دي په کومو کې چې قطع نشته کمامر.

(۱۳)قوله وبخيانة ای لايقطع بخيانة فی الوديعة .يعنی د خائن او خائنة (خائن هغه دی له کوم سره چې يوشئ دحفاظت لپاره کېښېنودل شي اودی په هغه کې خيانت وکړي) لاس نه پرېکيږي ولې چې دمودع په لاس کې چې کوم مال دی هغه مال غير محفوظ دی او په غير محفوظ مال کې قطع اليد نشته .

(۱۴)همداشان د منتهب (چې په علانية سره له يو چاڅخه يوشئ په زور ويسي)او مختلس(چې په غفلت سره ديوچاله لاس څخه يو شئ ويسي او وتښتي)لاس هم نه پري کيږي ولی چې دادواړه په علانية سره دا عمل کوي په پټه طريقه سره يې نه کوي لهذا دسرقې تعريف پردوئ نه صادقيږي په دي وجه چې سرقه په پټه طريقه سره وي .

(۱۵)قوله ونبش ای لايقطع بسبب نبش القبور ،يعنی دنباش (دکفن غلاکونکی) لاس به هم نه پري کيږي ﴿لقوله عليه الصلاة والسلام لا قطع علی المختفي﴾ (دکفن پر غلاکونکي قطع يد نشته).اوهمداشان دکفن په ملکيت کې شبه ده په دي دول چې دميت لپاره هيڅ ملکيت نشته او دميت دحاجت د مقدم والی په وجه سره دوارث هم ملکيت نشته ولی چې دثبوت سرقه لپاره دمال مملوک والی ضروري دی .

(۱۶)قوله ومال عامة ای لايقطع فی سرقة مال العوام ،يعنی که يو چا دعامو خلکو مال يعنی دبيت المال (داسلامي حکومت خزانه)يو شئ غلاکړ نو دهغه لاس نه پري کيږي ولی چې دا دعامو مسلمانانو مال دی او غل په خپله هم له دوئ څخه دی نو دشبه په وجه سره په دي کې قطع يد نشته .همداشان که چاداسې مال غلاکړ چې په هغه کې خپله دی هم شريک وي نو دده لاس به هم نه پري کيږي ولی چې په دي مال کې دده هم حق دی لهذا په دي صورت کې هم شبهه ده،اودقرض غوښتونکي له خپل مقروض څخه دقرض په اندازه مال په غلاکولو کې قطع يد نشته ولی چې همدا به ويل کيږي چې ده خپل حق وصول کړی دی .

(۱۷)قوله وبشئ قطع فيه ولم يتغير ای لايقطع بسرقة الشئ قد قطع فيه ولم يتغير ،يعنی که چايوشئ غلاکړ بيا ونيول شو بيادده لاس پري کړای شواومسروق شئ مالک ته بيرته ورکړل شواوتراوسه په ده کې څه تغيرنه وو راغلی چې غله بيادا غلاکړنودوهم ځل پرده قطع نشته ولی چې قطع يد دمقطوع په حق کې دمسروقه مال عصمت ساقط کړاو مالک دواپس کولو په وجه سره که څه هم دهغه عصمت بيرته راګرځي ليکن دسقوط شبه پاتي ده اوحدودپه شبهاتوسره ساقطيږي ،البته که مالک ته له واپس کولووروسته په هغه شئ کې تغيرراغلی وومثلاً دپنبو وسپنسي يې غلاکړي ووپه دي کې لاس پري کړای شو او پنبو وسپنسي مالک ته بيرته واپس کړای شوبيامالک له هغه څخه جامه جوړه کړه اوس غله داجامه غلاکړه نوپرده دوهم ځل قطع شته ولی چې اوس دابل شئ دی .

(۱۸)ويقطع بسرقة الساج والقنا والآبنوس والصندل والفصوص الخضر والياقوت والزبرجد واللؤلؤ (۱۹)والأواني والأبواب المتخذة الخشب.

ترجمه :او لاس به پري کيږي دساکهو (يو قسم لرګی)اونيزي دلرګي اوآبنوس اوصندل اورغون غمی اوياقوت اوزمرود او ملغلري ،اولوښی اوداسي دروازوپه غلاکولو کې چې له لرګي څخه جوړي شوي وي .

تشريح:(۱۸)د ساکهواونيزي دلرګي اوآبنوس اوصندل (ديوخوشبولرونکي لرګي نوم دی)،په زرغونوغميانو، ياقوت ،زمرداوملغلروپه غلاکولوکې قطع يدشته ددي شيانودغلاکونکی لاس به پري کيږي ولی چې دامحفوظ اودخلکوپه نزدمحترم مال دی اوپه دارالاسلام کې په خپل اصلي صورت کې مباح نه موندل کيږي .

ف:الساج،دسوررنګ والا مضبوط لرګی دی ،آبنوس ،ديو مشهوري درختي نوم دی دکومي چې لرګی سخت ،وزن لرونکی او تور وي ،ياقوت،يوه قيمتی دبره کومه چې سره ياشنه ياژړه ياسپينه وي ، زمرد دزرغون رنګ والا قيمتی دبره ده .

(۱۹)قوله والاواني والابواب المتخذة من الخشب ای يقطع بسرقة الاواني والابواب المتخذة من الخشب.يعنی داسې لرګی چې د هغه په غلاکولو کې لاس نه پري کيږي که له هغه څخه لوښي يادروازي جوړي شوي نودهغودغلاکونکی لاس به پري کيږي په دي شرط چې محفوظ وي اودروازه په ديوال کې لګيدلي نه وي ولی چې دالرګی اوس په اموال نفيسه کې شامل شو .

فَصْلٌ فِي الْحِرْزِ

دا فصل دمحفوظ ځای په بيان کې دی

حرز،په لغت کې محفوظ ځای ته ويل کيږي په کوم کې چې ديوشئ حفاظت کيږي ، او شرعاًهغه ځای ته ويل کيږي چې په هغه کې چې عادةً د مال حفاظت کيږي ،بيا حرز په دوه قسمه دی يو هغه کوم چې دخپلي معنی په وجه سره حرزوي ،لکه کورونه ،او کوټي ،يادکان ،صندوق،خيمه،وغيره او حرز حقيقة همدا دی ،دوهم دا چې حرز دکوم ساتونکی اوڅارونکی وغيره په ذريعه سره وي مثلاڅوک په مسجد يالاره کې ناست دی اودهغه په لاس کې مال دی نودامال محرزبه دی اودامعنی حرزدی.

دسرقه په تعريف کې دحرز ذکروشوچې دثبوت سرقه لپاره دمال په حرزکې موجودوالی شرط دی اوس ددي حرزتفصيل بيانوي چې کوم قسم مال په حرزکې شمارل کيږي اوکوم قسم مال په حرزکې نه شمارل کيږي .

(۱)وَمَنْ سَرَقَ مِنْ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ (۲)لَا بِرَضَاعٍ (۳)وَمِنْ زَوْجَتِهِ وَزَوْجِهَا وَسَيِّدِهِ وَزَوْجِ سَيِّدَتِهِ (۴)وَمُكَاتَبِهِ وَخَتَنِهِ وَصِهْرِهِ (۵)وَمِنْ مَغْنَمٍ (۶)وَحَمَّامٍ وَبَيْتٍ أُذِنَ فِي دُخُولِهِ لَمْ يُقْطَعْ.

ترجمه:اوچاچې غلاوکړه له خپل ذی رحم محرم څخه ،نه له رضاعي محرم څخه ،ياله خپلي ښځي څخه ياله خپل خاوند څخه ياله خپل مولی څخه يادمولی له ښځي څخه يادخپلي مالکي له خاوند څخه ،ياله خپل مکاتب څخه ياله خپل زوم څخه ياله خپل خسر څخه ،ياله غنيمت څخه ،ياله حمام څخه ياله داسي کورڅخه چې په هغه کې دداخليدلو اجازه ورکړل شوي نولاس به نه پري کيږي .

تشريح:(۱)که چاله خپل ذی رحم محرم قريب (مثلا موراوپلار ،لور،لمسی وغيره)څخه يوشئ غلاکړ نو دهغه لاس نه پري کيږي ولی چې دوئ يودبل کورنوته بلااجازي ځي راځي نوددوئ مالونه له يوبل څخه محفوظ نه دي حال داچې دقطع يد لپاره ضروري ده چې محفوظ مال به يې غلاکړی وي .

(۲) قوله لابرضاع ای يقطع اذا كانت المحرمية بسبب الرضاع .دا له ماقبل نفی څخه نفی ده کوم چې مفيد اثبات ده يعنی که دچاله بل چاسره رضاعي محرميت او قرابت وي مثلا رضاعي پلار يا رضاعي ورور وغيره وي نو له دوئ څخه په غلاکولو کې به دده لاس پري کيږي ولی چې ددوئ په خپل منځ کې کوم قرابت نشته او بغير له قرابت څخه محرميت په دي باب کې معتبر نه دی ،بلکه په دي محرميت کې احترام هم نه وي لکه چې څوک له يوي ښځې سره زنا وکړي نو دمزنيه مور پرده حراميږي مگر په دي کې هيڅ احترام نشته ،البته دامام ابويوسف رحمه الله په نزد که يې له رضاعي مور څخه يو شئ غلا کړنو دده لاس به پري کيږي ولی چې رضاعي مورته هم راځي نو دحرز دنه موجود والی په وجه سره به يې لاس نه پري کيږي.

(۳) قوله ومن زوجته وزوجها ای لايقطع يد من سرق من زوجته او من زوجها .يعنی که له زوجينو څخه يو له هغه بل څخه کوم شئ غلا کړي ،يا غلام له خپل مولی څخه يا دمولی له ښځې څخه يا غلام دخپلي مالکي له خاوند څخه کوم شئ غلا کړي نو په دي ټول صورتونو کې هم دغله لاس نه پري کيږي ولی چې ددوئ په منځ کې گډژوندا و ديو بل کورنو ته دتگ راتگ اجازت عادةً موجود دی .

(۴) قوله ومكاتبه وختنه ای لايقطع من سرق من مكاتبه او ختنه .يعنی که مولی له خپل مکاتب څخه کوم شئ غلا کړ نو هم دمولی لاس نه پري کيږي ولی چې دمکاتب په کسب کې دمولی حق دی نو دا مورِث شبه دی لهذا په دي کې قطع يد نشته ،همدا شان له خپل ختن (له ختن څخه دخپلو ټولو ذی رحم محرمو ښځو خاوندان مراددي)څخه په غلاکولو کې قطع يد نشته،او له خپلو اصهارو (له اصهارو څخه دښځې ټول ذی رحم محرم مراددي) څخه په غلاکولو کې قطع يد نشته ولی چې دوئ په خپل منځ کې يو دبل کورونو ته ځي راځي نو ددوئ مالونه له يو ه بل څخه محفوظ نه دي حال داچې دقطع يد لپاره دمال محفوظ غلا کول شرط دی .

(۵) قوله ومن مغنم ای لايقطع من سرق من مغنم .يعنی که چاله مال غنيمت څخه کوم شئ غلا کړنو هم پرده قطع يد نشته که دغله په دي مال غنيمت کې حصه وي او که نه وي ولی په مال غنيمت کې چې ترڅو څه تغير نه وي راغلی ترهغه وخت پوري مباح الاصل دی لهذا په دي کې قطع يد نشته .

(۶) قوله من حمام ای لايقطع من سرق من حمام .يعنی که چاله حمام څخه دخلکو دتگ راتگ پروخت کوم شئ غلا کړ يا يې له داسي کور څخه کوم شی غلا کړ چيرته چې خلگو ته دتللو اجازه وي نو دده لاس به نه پري کيږي ولی چې په حمام کې عادةً او کورته حقيقةً دتللو اجازت دی نو په حمام او داسي کور کې دموجود مال په حرز کې خلل دی لهذا په غلاکونکی باندي دسارق تعريف نه صادقيږي .

(۷) وَمَنْ سَرَقَ مِنَ الْمَسْجِدِ مَتَاعًا وَرَبُّهُ عِنْدَهُ قُطِعَ (۸) لَا مِنْ سَرَقَ ضَيْفٌ مِمَّنْ أَضَافَهُ (۹) او سَرَقَ شيئا او لَمْ يُخْرِجْهُ مِنَ الدَّارِ لَا (۱۰) وَإِنْ أَخْرَجَهُ مِنْ حُجْرَةٍ إِلَى الدَّارِ اوْ أَغَارَ مِنْ أَهْلِ الْحُجَرِ عَلَى حُجْرَةٍ او نَقَبَ فَدَخَلَ وَأَلْقَى شيئا فِي الطَّرِيقِ ثُمَّ أَخَذَهُ (۱۱) او حَمَلَهُ عَلَى حِمَارٍ فَسَاقَهُ وَأَخْرَجَهُ قُطِعَ.

ترجمه: او چاچې له مسجد څخه سامان غلا کړ او دهغه مالک له هغه سره موجود وونو لاس پري کيږي ،او که ميلمه غلا وکړه له هغه کس څخه کوم چې دی ميلمه کړی دی ،يا يې کوم شئ غلا کړ مگر هغه يې له مکان څخه ونه ايستی نو لاس نه پري کيږي ،او که يې له کوټې څخه دکور طرف ته راويستی يا لوټ وکړله کوټو والا وڅخه يو ه په کومه کوټه يا په نقب لگولو سره داخل شو او کوم شئ يې لاري ته وغورځاوو يا يې هغه يو وړی ،يا يې پرخره بار کړ او دباندي يې راويستی نو لاس پري کيږي.

تشريح:(۷)كه چاله مسجد څخه دچامال غلاكړاودهغه مال مالک دحفاظت لپاره موجودوونودسارق لاس پري كيږي ولې چې دامال دحافظ په ذريعه سره محفوظ دی اودمحفوظ مال په غلاكولوكې قطع يدشته.

(۸)او كه ميلمه دخپل كوربه له كورڅخه كوم شئ غلاكړنو دهغه لاس نه پري كيږي ولې چې دكوربه له طرف څخه داذنِ دخول په وجه سره دميلمه په حق كې دامكان حرزنه شوپاتي لهذاپه دي كې موجودمال دميلمه په حق كې غيرمحفوظ دی په دي وجه دهغه لاس نه پري كيږي.

(۹)كه چا يو شئ غلاكړ،مگرهغه يې له مكان څخه ونه ايستی نودهغه لاس به نه پري كيږي په دي شرط چې مكان ډيرلوی نه وي ولې چې ټول مكان يوحرزدی نوترڅوچې يې له حرزڅخه ونه باسي داكس من كل الوجوه دمال وړونكی نه شمارل كيږي په دي وجه دده لاس نه پري كيږي.

(۱۰)كه غله دمكان په كوټوكې له يوي كوټي مال راوايستی اوسرای ته يې راوړی نودده لاس پري كيږي ولې چې هركوټه دخپلو اوسيدونكوپه اعتبارسره جلاحرزدی نوځرنگه چې ده له حرز څخه مال ايستلی دی نوداله كورڅخه دكوټي طرف دمال ايستلوپه شان دی لهذاددهٔ لاس به پري كيږي .اوكه په مذكوره كوټوكې له اوسيدونكوڅخه دكومي كوټي والا دنوروكوټووالالوټ كړل څه مال يې غلاكړنو پردهٔ قطع يدواجبه ده په دي شرط چې كورلوی وي ولې چې هره كوټه دخپلواوسيدونكوپه اعتبارسره جلاحرزدی نوداكوردكلي په مرتبه كي دی.

(۱۱)كه سارق په سوری جوړلوسره كورته داخل شواومال يې له كورڅخه دباندي وغورځاوه بياراووتی اومال يې يووړی نودده لاس به پري كيږي ولې چې مال غورځول يوه حيله ده ولې چې له مال سره وتل مشكل وي لهذامال غورځول اوبياوړل يوفعل شمارل كيږي ،اوهمداشان كه يې پرخره مال باركړبيايې راويستی نوهم به دده لاس پري كيږي ولې چې خرخوده رايستلی ووپه دي وجه دخره تگ دده طرف ته منسوب دی.

(۱۲)اَوْنَاوَلَ آخَرَمِنْ خَارِجٍ(۱۳)اَوْاَدْخَلَ يَدَهٗ فِي بَيْتٍ وَّاَخَذَ(۱۴)اَوْطَرَّ صُرَّةً خَارِجَةً مِّنْ كُمٍّ اَوْسَرَقَ مِنْ قِطَارٍ بَعِيْرًا اَوْحِمْلًا لَا(۱۵)وَاِنْ شَقَّ الْحِمْلَ فَاَخَذَمِنْهُ اَوْسَرَقَ جُوَالِقًا فِيْهِ مَتَاعٌ وَرَبُّهٗ يَحْفَظُهٗ اَوْنَائِمٌ عَلَيْهِ(۱۶)اَوْاَدْخَلَ يَدَهٗ فِي صُنْدُوْقٍ اَوْفِي جَيْبِ غَيْرِهٖ اَوْكُمِّهٖ فَاَخَذَالْمَالَ قُطِعَ.

ترجمه:اوكه يې وركړبل ته كوم شئ له كورڅخه دباندي ،يايې كورته په لاس دننه كولوسره راواخيست،يايې هميانی پري كړه كومه چې له لستوڼي څخه دباندي وه يايې غلاكړله قطارڅخه اوښ يادهغه بارنونه به بري كيږي ،اوكه يې بارڅيري كړاوله هغه څخه يې كوم شئ يووړيايې جوال غلاكړپه كوم كې چې سامان وواودهغه مالک دهغه حفاظت كاوو يا پرهغه بيده وو ،يايې لاس دننه كړپه صندوق كې يادچاپه جيب كې ياپه لستوڼي كې اومال يې يووړنولاس به پري كيږي .

تشريح:(۱۲)كه غله په سوری كولوسره كورته داخل شواومال يې راواخيست اوبل ته كوم چې له كورڅخه دباندي ولاړدی وركړنوله دي دواړوڅخه ديوه لاس نه پري كيږي ولې چې له اول څخه خواخراج مال نه دی متحقق شوی اوددوهم په حق كې مال محفوظ نه دی لهذاپريوه حدنشته ،له امام ابويوسف رحمه الله څخه روايت دی چې دداخل لاس خوپه هرحال كې پري كيږي اوخارج كه دلاس په دننه كولوسره مال وړی وي نودهغه لاس به هم پري كيږي .

(۱۳)که چادبل چامکان سوری کړاو لاس یې دننه کړ مال یې را وخیست په خپله داخل نه شو نو پرده قطع نشته ولی چې دحضرت علی ﷺ قول دی چې دداسې کس لاس به نه پرې کیږي ،همداشان په مذکوره صورت کې مال محفوظ نه دی ولی چې دمال حفاظت ختمول په داخلیدلو سره دی دلته دخول نه دی محتقق شوی ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزددده لاس پرې کیږي ولی چې دمحفوظ مال وړی دی او دقطع یدلپاره شرط دمال محفوظ والی دی.

ف :دطرفینو قول راجح دی لمافی الدّر المختار :(او ادخل یده فی بیت واخذ)..............لم یقطع فی الصحیح (الدّر المختار علی هامش ردّالمحتار:۳\۲۲۳)

(۱۴)که سارق داسې همیانۍ پرې کړه چې له لستوڼي یاجامې څه دباندې وه نو دهغه لاس نه پرې کیږي ولی چې په داسې صورت کې دهمیانۍ غوټه دباندې وي نو ده له باندې څخه غوټه پرې کړې ده نو په حرز کې دننه موجودوالی په وجه سره به دده لاس نه پرې کیږي ،همداشان که چاله قطار څخه اوښ غلا کړ یا یې پراوښ بار شوي بار غلا کړ نو دده لاس نه پرې کیږي ولی چې په دې صورت کې حرط یعنی حفاظت مقصود دی نو په حرزکې دشبه په وجه سره لاس نه پرې کیږي وجه داده چې داوښانو دکښونکي یاپراوښانو دسپرو مقصود دمسافت قطع کول دي یادبارله یوه ځای څخه بل ځای ته وړل دي په دې وجه حفاظت مقصود دي نه دی.

(۱۵)که غله ترل شوی کهاټ څیري کړاوله هغه څخه یې مال یووړی یا یې جوال (په کوم کې چې غله اچول کیږي) غلا کړچې په هغه کې مال وي او مال دهغه حفاظت کوي یا پرهغه ویده وو نولاس به پرې کیږي ولی چې په کهاټ کې له مال ایښودلو څخه مقصود دمال ساتنه وي لهذا حرز موجود شو نوله حرز څخه دمال دغلاکولو په وجه سره لاس پرې کیږي، او جوال که څه هم غیرمحرز دی لیکن څرنګه چې له هغه سره محافظ موجود دی نو دمحافظ په وجه سره جوال هم محفوظ مال دی لهذا په دې کې قطع ید شته.

(۱۶)که یو چا دصرّاف په صندوق کې یا د چا په جیب یالستوڼي کې خپل لاس دننه کړاو مال یې را وایستی نو دده لاس به پرې کیږي ولی چې ده دحرز په ماتولو سره مال وړی دی او وددي قسم شیانو دحرز ماتول په همدې شان سره وي لهذا په دې کې قطع ید شته.

فصل فی کیفیۃ القطع واثباتہ

دا فصل دلاس دپرې کولو او دهغه داثبات په بیان کې دی

څرنګه چې قطع ید له محفوظ ځای څخه دمال دغلاکولو حکم دی او دشئ حکم له شئ څخه وروسته وي په دې وجه یې دحرزله بیان څخه وروسته دقطع ید کیفیت بیان کړ.

(۱)تُقطَعُ یَمِینُ السَّارِقِ مِنَ الزَّنْدِ(۲)وَتُحْسَمُ(۳)وَرِجْلُهُ الْیُسْرَی اِنْ عَادَ(۳)فَاِنْ سَرَقَ ثَالِثًا حُبِسَ حَتّٰی یَتُوبَ وَلَمْ یُقْطَعْ(۵)کَمَنْ سَرَقَ وَاِبْهَامُهُ الْیُسْرٰی مَقْطُوعَةٌ اَوْ شَلَّاءُ اَوْ اِصْبَعَانِ مِنْهَا سِوَاهَا اَوْ رِجْلُهُ الْیُمْنٰی مَقْطُوعَةٌ(۶)وَلَا یَضْمَنُ بِقَطْعِ الْیُسْرٰی مَنْ اَمَرَ بِخِلَافِهٖ(۷)وَطَلَبُ الْمَسْرُوقِ مِنْهُ شَرْطُ الْقَطْعِ.

ترجمه: پري كيږي د غله ښې لاس له مړوند څخه ،او داغ به پري لګول كيږي ،او كيڼه پښه كه دوهم ځل غلا وكړي ،نو كه يې غلا وكړه دريم ځل نو بندي كيږي به تر څو چې توبه وباسي او لاس به يې نه پرى كيږي ،لكه چې هغه غلا وكړي او د هغه كيڼه بته ګوته پري شوي وي يا شله وي يا له يې له دي څخه علاوه دوي ګوتي پري شوي وي ،او ضامن نه دى د كيڼ په پري كولو سره كوم چاته چې د دي په خلاف امر شوى وي ،او مطالبه كول د مسروق منه د قطع يد لپاره شرط دى .

تشريح: (۱) د غله راسته لاس له زند (مړوند) (زند دورغوي او څنګلي تر منځ جوړ ته ويل كيږي) څخه پرى كيږي ولې چې حضور ﷺ د غله د لاس له مړوند څخه د پري كولو حكم كړى وو ،نو دا پر هغو خلګو حجت دى كوم چې صرف د ګوتو د پري كولو قائل دي .

(۲) او وجوبا به د وينو د بندولو لپاره داغ وركول كيږي ﴿لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فَاقْطَعُوْهُ ثُمَّ احْسِمُوْهُ﴾ (د سارق لاس پريكړئ بيا هغه ته داغ وركړئ)،احسموه،دامر صيغه ده كومه چې مقتضى د وجوب ده . همدا شان د دې لپاره هم چې له داغ وركولو بغير د مفضى الى التلف كيدلو ويره ده حال دا چې حد زاجر دى متلف نه دى .

(۳) قوله ورجله اليسرى ان عاد اى تقطع رجله اليسرى ان عاد الى السرقة .يعنى كه سارق يو ځل له لاس پري كيدلو څخه وروسته دوهم ځل بيا غلا وكړه او ونيول شو نو په دي ځل غلا كولو به دده كيڼه پښه له كعب (د پښي اوبندلى په منځ كې جوړ)څخه پري كيږي ﴿لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فَإِنْ عَادَ فَاقْطَعُوْهُ﴾(كه غله دوهم ځل بيا غلا وكړه نو بيا يې قطع كړئ) او پر دي د امت اجماع ده ،او له كعب څخه پري كول د حضرت عمر ﷺ له فعل څخه ثابت دي .

(۴) كه هغه دريم ځل غلا وكړه نو پر هغه قطع يد نشته بلكه هغه ته به تعزير وركول كيږي او په بندي خانه كې به اچول كيږي تر څو چې توبه وكړي ولې چې حضرت علي ﷺ فرمايي ،ماته له الله ﷻ څخه شرم راځي چې زه د هغه يو لاس پري نه يږدم چې په هغه سره دى خورک وكړي او استنجاء ووهي او يوه پښه پري نه يږدم چې په هغې دى تګ وكړي ،او ده ﷺ باقى صحابه هم په دي قائل جوړ كړل لهذا پر دي د صحابه كرامو ﷺ اجماع ده .

(۵) قوله كمن سرق وابهامه اليسرى مقطوعة اى لايقطع فى مرة ثالثة كما لايقطع يمين من سرق وابهامه اليسرى مقطوعة . يعنى په دريم ځل كې به د سارق لاس نه پري كيږي لكه څرنګه چې كه داسي غله غلا وكړه چې د هغه د راسته لاس بته ګوته پري شوي وي يا شله وي يا يې له بتي ګوتي ماسوا د لاس دوي ګوتي پري شوي وي .يا يې راسته پښه شله يا پري شوي وي نو هغه ته د قطع يد ورجل سزا نه وركول كيږي ولې چې د قطع يد په صورت كې د هغه دنيولو جنس منفعت ختميږي او د قطع رجل په صورت كې د تګ كولو جنس منفعت ختميږي كوم چې معنى هلاكت دى لهذا دا حد به پر ده نه جاري كيږي بلكه هغه به بندي كيږي تر څو چې توبه وباسي .

(۶) كه د غله د راسته لاس د پري كولو حكم وي مګر جلاد كيڼ لاس پري كړ نو د امام ابو حنيفه ﷬ په نزد پر هغه تاوان نه لازميږي وجه دا ده چې كه څه هم جلاد د ده لاس ضائع كړ مګر د لاس له جنس څخه يې له دي لاسه بهتر لاس (يعنى راسته لاس) ده لره پريښود نو دا تلف نه شمارل كيږي او پر جلاد تاوان نه واجبيږي

،دصاحبينوپه نزددعمداً پري كولوپه صورت كې جلاد ضامن دى ولې چې ده دحاكم له حكم څخه مخالفت كړى دى.

(۷)دغله دلاس پري كولو لپاره دمسروق منه مطالبه شرط ده ځكه چې دسرقې دظهور لپاره دمسروق منه خصومت شرط دى په دي وجه چې دغيرپرمال جنايت ترهغه وخت پورى نه ښكاره كيږي ترڅوچې مسروق منه خصومت ونه كړي نودسرقې دظهورلپاره دمسروق منه له طرف څخه دعوى ضروري ده ځكه چې دمسروق منه له طرف څخه په ترک دعوى دعدم وجوب قطع شبه پيداكيږي اودشبه په وجه سره حدساقطيږي.

(۸)وَلَوْ مُودِعًا اَوْ غَاصِبًا اَوْ صَاحِبَ الرِّبَا (۹) وَيُقْطَعُ بِطَلَبِ الْمَالِكِ لَوْ سُرِقَ مِنْهُمْ (۱۰) لَا بِطَلَبِ الْمَالِكِ اَوِ السَّارِقِ لَوْ سُرِقَ مِنْ سَارِقٍ بَعْدَ الْقَطْعِ (۱۱) وَمَنْ سَرَقَ شَيْئًا وَرَدَّهُ قَبْلَ الْخُصُومَةِ اِلٰى مَالِكِهِ (۱۲) اَوْ مَلَكَهُ بَعْدَ الْقَضَاءِ (۱۳) اَوِ ادَّعٰى اَنَّهُ مَلَكَهُ (۱۴) اَوْ نَقَصَتْ قِيمَتُهُ مِنَ النِّصَابِ لَمْ يُقْطَعْ.

ترجمه: كه څه هم امانت داروي ياغاصب ياسودخور وي ،اولاس پري كيږي دمالک په مطالبه سره كه يې غلاكړى وي له دوئ څخه ،نه دمالک ياغله په مطالبه سره كه يې غلاكړى وي له غله څخه له قطع يد وروسته ،اوچاچې كوم شئ غلاكړاومالک ته يې بيرته وركړله خصومت څخه وړاندي ،ياغل دهغه مالک شوله قضاء څخه وروسته ،ياېې دعوى وكړه چې دازماملک دى ،يادهغه قيمت له نصاب څخه كم شونولاس نه پري كيږي.

تشريح: (۸)قوله ولو مودعا اى الخصومة شرط لظهور السرقة ولو كان الخصم مودعا .يعنى كه له چاسره دامانت مال وو غله هغه غلاكړياله يوبل چاڅخه غصب كړى مال وو غله غلاكړيادسودمال ووغله غلاكړمثلا چا دپنځودراهموپه عوض كې لس دراهمه واخيستل يادالس دراهمه چاغلاكړل نوپه دي دريوواړه صورتونوكې به دقابض په مطالبه سره دغله لاس پري كيږي داصل مالک مطالبه ضروري نه ده ځكه چې غلاپه خپله قطع يدواجبوي اوغلاقاضى ته له خصومت معتبره (دقابض خصومت)وروسته دګواهانوپه ګواهي سره ثابته شوي ده لهذاقطع يدواجب ده اودقابض خصومث په دي وجه معتبردى چې هغه لره دمسروق مال بيرته وړلوحق حاصل دى.

(۹)اوكه له مذكوره بلاصورتونوڅخه په كوم صورت كې دمال مالک دغله دلاس دپري كولومطالبه وكړه نودمالک دملک دقيام په وجه سره دهغه مطالبه معتبره ده لهذادهغه په مطالبه سره به دغله لاس پري كيږي.

(۱۰)كه دغله دلاس پري كيدلوڅخه وروسته بل غله له ده څخه مال غلاكړنواوس به دمالک اومخكني غله په مطالبه سره ددوهم غله لاس نه پري كيږي ولې چې دامال له قطع يدڅخه وروسته دغله په لاس كې غيرمتقوم دى همداوجه ده چې كه غل هغه هلاک كړي نوپرهغه ضمان نه راځي لهذادغير معصوم والى په وجه سره ددي مال دغلاكونكي لاس نه پري كيږي.

(۱۱)كه غله ديو چامال غلاكړ بيا حاكم ته ترمرافعي وړاندي هغه دامال مالک ته واپس كړنودغله لاس به اوس نه پري كيږي ولې چې دسرقې دظهورلپاره دحاكم په حضوركې خصومت كې شرط دى نوكله چې خصومت نشته نوقطع به واجب نه وي.

(۱۲)قوله او ملكه بعد القضاء اى من سرق شيئا و ملكه بعد القضاء بالقطع لم يقطع .يعني كه دقاضي له طرف څخه دقطع يدفيصلي كيدلووروسته سارق دمال مسروق مالک شومثلامسروق منه سارق ته مال مسروق هبه کړيامسروق منه مال مسروق پرسارق خرڅ کړنودسارق لاس نه پري کيږي ځکه چې په دي صورت کې دمسروق منه له طرف څخه خصومت پاتي نه شو حال داچې دقطع يدپروخت قيام خصومت شرط دی .

(۱۳)قوله او ادعى انه ملكه اى من سرق شيئا و ملكه بعد القضاء بالقطع لم يقطع .يعني كه سارق دعوی وکړه چې دامال (مال مسروقه)زماملک دی نوله ده څخه قطع يدساقطيږي که څه هم هغه پرخپله دعوی گواهان پيښ نه کړای شي ځکه ممکنه ده چې رښتيادي وايې نوله احتمال صدق څخه شبه پيداشوه اوپه شبه سره حدساقطيږي .

(۱۴)قوله او نقصت قيمته اى من سرق شيئا فنقصت قيمته من النصاب من حيث السعر ،يعني كه دقاضي له قضاء څخه وروسته له حدجاري کولوړاندي دمال مسروق قيمت له نصاب (لس درهمه)څخه کم شونودسارق لاس نه پري کيږي ،له امام محمد رحمه الله څخه يوروايت دادی چې لاس به پري کيږي ولی چې دادعين دنقصان په شان دی مثلاچالس دراهمه غلاکړل بيايودرهم ضائع شونوقطع يداوس هم لازمه پاتي کيږي نوپه همدي شان سره دقيمت دکميدلوپه صورت کې هم لاس پري کيږي ،زموږدليل دادی چې دقطع يدلپاره دلس دروهمونصاب پوره والي شرط دی نودلاس ترپري کيدلوپوري ددي نصاب قيامه ضروري ده ولی چې حدجاري کول هم له حکم قضاء څخه دي .

ف :دشيخينو رحمهما الله،قول راجح دی لمافى الدرالمختار (او نقصت قيمته من النصاب)بنقصان السعر فى بلد الخصومة (لم يقطع) قال العلامة ابن عابدين، (قوله او نقصت قيمته)اى بعد القضاء لان كمال النصاب لما كان شرطا يشترط قيامه عندالامضاء (الدرالمختار مع الشامية:۳\۲۳۰)

(۱۵)وَلَوْ أَقَرَّ اِبْسَرِقَةٍ ثُمَّ قَالَ أَخَذْتُهَا وَهُوَ مَالِي لَمْ يُقْطَعْ(۱۶)وَلَوْ سَرَقَا وَغَابَ أَحَدُهُمَا وَشَهِدَا عَلَى سَرِقَتِهِمَا قُطِعَ الْآخَرُ (۱۷)وَلَوْ أَقَرَّ عَبْدٌ بِسَرِقَةٍ قُطِعَ(۱۸)وَتُرَدُّ السَّرِقَةُ إِلَى الْمَسْرُوقِ مِنْه

ترجمه :اوکه اقرار وکړدوغلودغلا بيايې ووېل چې دازما مال دی نودداړو لاس نه پري کيږي ،اوکه دواړوغلا وکړه بيايوغائب شو اودووگوهانو ددوئ پرغلاگواهي ورکړه نودهغه بل لاس به پري کيږي ،اوکه اقراوکړغلام دغلانولاس به يې پري کيږي اوردېږي په مسرقه شئ مسروق منه ته .

تشريح :(۱۵)كه دووكسانوديوشئ دغلاكولواقراروكړبيابه دي دواړوڅخه يوه ووېل چې دازماملک دی ،نودداړولاس به نه پري کيږي ولی چې سرقه ددواړوله اقرارعلى الشركة څخه ثابته شوي وه بياکوم يوه چې دملک دعوی وکړه دهغه په حق کې حدباطل شونوله دي څخه دهغه بل په حق کې هم شبهه پيداکيږي لهذاله هغه بل څخه هم حدساقطيږي .

(۱۶)كه دووكسانويوشئ غلاكړبياي،غائب شواودووگواهانودهغوئ دواړوپرغلاگواهي ورکړه نودحاضرغله لاس به پري کيږي دادامام ابوحنيفه رحمه الله اخرنی قول دی ،دامام صاحب اولنی قول دادی چې دحاضرلاس به نه پري کيږي ولی چې يوغل غائب دی که هغه حاضروای کيدای شي چې هغه دکومي شبه دعوی کړی وای په کومه سره چې به حدساقط شوی وای لهذادحاضرغله لاس به هم نه پري کيږي ،بياامام

ابو حنيفه رحمه الله له خپل قول څخه په رجوع كولو داقول اختيار كړچې دحاضرلاس به پري كيږي ولى چې كوم چې غائب دى پر هغه سرقه نه ثابتيږي لهذا هغه كالعدم دى او دمعدوم له ذات څخه كومه شبه نه پيدا كيږي صرف دشبهه وهم وي چې دهغه اعتبار نشته لهذا دحاضرلاس به پري كيږي.

(۱۷)كه كوم غلام دغلا كولو اقرار وكړ نو دشيخينو په نزد دهغه لاس پري كيږي ولى چې دغلام اقرار كول دحدودو په باره كې دآدميت په اعتبار سره دى دماليت په اعتبار سره نه دى او په غلام كې آدميت متحقق دى لهذا دهغه لاس به پري كيږي ،همداشان دهغه په اقرار كې پر هغه هيڅ تهمت نشته ولې چې په دي اقرار كې تر مولى دده ضرر ډير دى او داسې اقرار پر بل چاهم مقبول وي.

(۱۸)اوكه غلاشوى مال موجود وى نو مسروق منه ته به واپس كيږي ولى كله چې دغلام اقرار بالحد صحيح شو يعنى قطع يدثابته شوه اوقطع يد بحكم شرع دي خبري ته مستلزم ده چې مال دمقرله دى ولى چې كه مال دده مولى ته ثابت شي نو بيا پر ده دقطع يد حكم صحيح نه دى.

(۹)لايجتمع قطع وضمان(۲۰)وترد العين لو قائما(۲۱)ولو قطع لبعض السرقات لا يضمن شيئا(۲۲)ولو شق ما سرق في الدار ثم أخرجه قطع(۲۳)ولو سرق شاة فذبحها وأخرجها لا

ترجمه:اونه جمع كيږي قطع يدا وضمان،او واپس كيږي به عين شئ كه په خپل حال پاتي وو ،اوكه لاس پري كړاى شو دځو غلاګانو په بدله كې نو ضامن نه دى دبل كوم شئ ،اوكه يې څيري كړ مسروقه مال په كوركې بيايې دباندي وايستى نو لاس پري كيږي ،اوكه يې اوه غلا كړه او هغه يې ذبح كړه بيايې هغه له كور څخه وايستله نو نه پري كيږي.

تشريح:(۱۹)قطع يدا ودمال ضمان دواړه يوځاى نه شي سره جمع كيداى يعنى داسې نه شي كيداى چې دغله لاس دي هم پري شي اوله هغه څخه دي دمال تاوان هم يووړل شي ولى چې په حديث شريف كې دي؟ لاغرم على السارق بعد ما قطعت يمينه؟(يعنى چې كله دسارق لاس پري شي نو بيا پر هغه هيڅ تاوان نشته).

(۲۰)البته كه دسارق لاس پري شو اوغلاشوى مال اوس هم دسارق په لاس كې موجود وو نو هغه به بيرته خپل مالك ته واپس كيږي ولى چې تر اوسه دمالك ملك پر هغه مال برقرار دى ،اوكه غلاشوى مال په كوم طريقه سره تلف شوى وي يا تلف كړل شوى وي نو غل ضامن به نه وي ولى چې قطع او ضمان زموږ په نزد نه شي سره جمع كيدلاى لماروينا.

(۲۱)كه چا ډيري غلاوي كړي وي بياله مسروق منهم څخه يوه پر هغه دعوى وكړه او غلا يې ثابته كړه چې دهغې په عوض دهغه لاس پري شو نوله باقي غلاو څخه ديوي تاوان هم اوس پر ده لازم نه دى بلكه دټولو غلاو بدله همدا يو قطع يد دى ولى چې قطع يد شرعى حد دى او په حدودو كې تداخل كيږي لهذا دټولو له طرف څخه دا يوه سزا كافي ده.

(۲۲)كه چا يو شى مثلا جامه وغيره غلا كړه او هلته په كور كې يې څيري كړه بيا يې دباندي راويستى نو دطرفينو په نزد دده لاس پري كيږي په دي شرط چې په څيري كولو سره هغه بالكل بيكاره شوي نه وي يعنى اوس هم دهغې قيمت لس درهمه يا له دي څخه زيات وي ،حال داچې دامام ابو يوسف رحمه الله څخه يو روايت دادى چې دده لاس نه پري كيږي ولى چې دغله په دي دملك سبب پيدا شو يعنى دپري كولو په وجه سره

پر غله دي قیمت واجب شو او دجامي په خپله مالک شو لهذا دده لاس به نه پري کیږي ،دطرفینو دلیل دادی چې څیري کول دملک شرعي سبب نه دی بلکه دتاوان سبب دی بیاده لره خود ملک ثبوت دضرورت پراساس دی هغه داچې تر څوشئ او دهغه تاوان دیوه کس په ملک کې سره جمع نه شي نو په دي شان ملک کوم چې موجب ضمان وي په حد سرقه کې شبهه نه پیدا کوي لهذا قطع ید واجب ده .

(۲۳)که کوم کس اوه غلا کړه هغه یې هلته په کور کې ذبح کړه بیایې دباندي راویستله نو دهغه لاس به نه پري کیږي ولی چې له ذبح څخه وراندي یې له کور څخه نه ده ایستلي په دي وجه داتراوسه غلا نه ده له ذبح کولو اوداوي له غوښې ګرځیدلو وروسته غلا مکمله شوه اوس ظاهره چې ده غوښه غلا کړي ده او په غوښه غلا کولو کې قطع ید نشته .

(۲۴)وَلَوْ صَنَعَ الْمَسْرُوقَ دَرَاهِمَ أَوْ دَنَانِيرَ قُطِعَ وَرَدَّهَا (۲۵)وَلَوْ صَبَغَهُ أَحْمَرَ فَقُطِعَ لَا يَرُدُّ وَلَا يَضْمَنُ (۲۶)وَلَوْ أَسْوَدَ يَرُدُّ.

ترجمه:او که یې جوړل کړل له مسروق مال څخه دراهم یادنانیر نو لاس پري کیږي او هغه به واپس کیږي ، او که یې جامي ته سوررنګ ورکړ او لاس پري شو نو نه به واپس کیږي او نه به ضمان ورکوي.او که یې تور رنګ ورکړ نو جامه به واپس کوي .

تشریح: (۲۴)که چادومره اندازه سره اوسپین زر غلا کړل چې په هغو کې قطع ید واجب ده بیا هغه له هغو څخه دنانیر جوړ کړل یایې دراهم جوړ کړل نو په دي که به دهغه لاس پري کیږي اوددراهم اودنانیرو به مسروق منه ته واپس کیږي دادامام ابو حنیفه ﷫ قول دی ،دصاحبینو په نزد به دراهم اودنانیر مسروق منه ته نه واپس کوي ولی چې غله په دراهمو کې داسي تصرف کړی دی کوم چې قیمتي دی لهذا له دي سره دغله دملک دمخلوط کیدلو په وجه سره به هغه نه واپس کوي ،داامام ابو حنیفه ﷫ په نزد دغله داتصرف څرنګه چې قیمت نه لري لهذا عین مسروق باقي دی باقي هغو لره نوی نوم او په هغو کې تصرف له هغو سره لازم نه دی بلکه په معمولي تغیر سره دسابقه حال طرف ته بیرته راګرځیدلی شي لهذا مالک ته واپس کول ضروري دي .بیاپه وجوب قطع کې خود امام ابو حنیفه ﷫ په نزد هیڅ اشکال نشته ولی چې غل ددراهمو مالک نه دی ګرځیدلی هودصاحبینو دقول مطابق به قطع ید واجب نه وي ولی چې غل دمال مسروق مالک ګرځیدلی دی او دملک په وجه سره قطع ید ساقطیږي .

ف:دامام ابو حنیفة ﷫ قول راجح دی .لما قال الشیخ عبدالحکیم الشهید:والراجح عند اکثر المشائخ قوله کما هو الظاهر من صنعهم فی الدلائل وهو ظاهر الروایة من الامام وهو اختار المتون والشروح وکذا جزم به غیر واحد من کتب الفتاوی بالاقتصار وان لم یصرحوا بالترجیح:والله اعلم بالحقیقة والصواب (هامش الهدایة:۲\۵۳۳)

(۲۵)او که غله مثلا سپینه جامه غلا کړه هغي ته یې سوررنګ ورکړ او په جامه غلا کولو دهغ لاس پري شونو دشیخینو په نزد که جامه په موجوده وه نو هغه به واپس نه ورکوي او که جامه هلاکه شوي وي نو دهغې دقیمت ضامن هم نه دی ،حال داچې دامام محمد ﷫ په نزد به جامه له غله څخه بیرته ورل کیږي او درنګ په وجه سره چې په هغې کې کومه اضافه شوي ده هغه به سارق ته ورکول کیږي ولی ې اصل مال مسروق موجود دی رنګ خود هغه تابع دی لهذا داصل په اعتبار کولو سره به بیرته واپس کیږي ،دشیخینو دلیل دادی چې دغله رنګ په جامه کې صورة او معنی قائم دی حال داچې دجامي دمالک حق صورة قائم دی معنی نه

شته همداوجه ده چې که له غله څخه جامه هلاکه شوه ياده هلاکه کړه نوضامن نه دی نوغله دترجيح ديرحقدار دی لهذاپرغله نه جامه واپس کول واجب ده اونه ضمان واجب دی .القول الراجح هو قول الشيخين لان على قولهما المتون والشروح.

(۲۶)قوله ولواسود يرد ای لو صبغ السارق الثوب اسود يرد .يعنی که سارق جامي ته توررنگ ورکړنودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدبه له غله څخه جامه ورل کيږي ،اودامام ابويوسف رحمه الله په نزدنه ورل کيږي ولی چې دامام ابويوسف رحمه الله په نزدتوررنگ اوسوررنگ دواړه برابردي لهذاکوم حکم چې دسره رنگ دی هغه دتوررنگ هم دی ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادی چې توررنگ اوسوررنگ سره برابرنه دي بلکه توررنگ په جامي کې عيب دی اودعيب په وجه سره دمالک حق نه منقطع کيږي ،دځينوعلماء رأيه داده چې دادزماني اختلاف دی ولی چې دامام صاحب په زمانه کې دبنوامیه په سلطنت کې دسره رنگ قدروواوتوررنگ عيب شمارل کيدواودصاحبينوپه زمانه کې دعباسيه په سلطنت کې دتوررنگ قدرهم شروع شو لهذاعيب نه شمارل کيدو.

بَابُ قَطْعِ الطَّرِيقِ

داباب دلارشکولو په بيان کې دی

غلا سرقه صغری ده اولاره شکول سرقه کبری ده مصنف رحمه الله چې دسرقه صغری له بيان څخه فارغ شو نو دسرقه کبری په بيا ن يې شروع وکړه ،دسرقه صغری دتقديم وجه داده چې هغه کثير الوقوع ده لهذا هغه احق با لتقديم ده، لاره شکول سرقه کبری په دي وجه ده چې دهغې ضرردير زيات دی په همدي وجه سره دهغې سزاهم شديده ده .

(۱)أَخَذَ قَاصِدَ قَطْعِ الطَّرِيقِ قَبْلَهُ حُبِسَ حَتَّى يَتُوبَ (۲)وَإِنْ أَخَذَ مَالًا مَعْصُومًا قُطِعَ يَدُهُ وَرِجْلُهُ مِنْ خِلَافٍ (۳)وَإِنْ قَتَلَ قُتِلَ حَدًّا وَإِنْ عَفَا الْوَلِيُّ (۴)وَإِنْ قَتَلَ وَأَخَذَ قُطِعَ وَقُتِلَ وَصُلِبَ أَوْ قُتِلَ أَوْ صُلِبَ (۵)وَيُصْلَبُ حَيًّا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَيُبْعَجُ بَطْنُهُ بِرُمْحٍ حَتَّى يَمُوتَ (۶)وَلَمْ يَضْمَنْ مَا أَخَذَ (۷)وَغَيْرُ الْمُبَاشِرِ كَالْمُبَاشِرِ (۸)وَالْعَصَا وَالْحَجَرُ كَالسَّيْفِ

توجمه:ونيول شول دلاري شکولو قصد کونکي له لاري شکولو څخه وراندي نوهغه به بندي کړای شي ترڅوچې توبه وکړي،اوکه هغه يووری مال معصوم نوپري کيږي به دهغه لاس اوپښه سرچپه ،اوکه يې څوک قتل کړنوقتل کيږي به که څه هم دمقتول ولی هغه معاف کړي ،اوکه يې څوک قتل کړاومال يې هم يوورنولاس به پري کيږي اوقتل کيږي به اوراودي ځړول شي يادي صرف قتل کړای شي يادصرف راوځړول شي ،اوژوندی دي پردارراوځړول شي تردري ورځوپوري اوخيري دي کړي دهغه گيډه په نيزه سره ترڅوچې مړشي ،اوضامن نه دی دهغه مال کوم چې هغه وړی وي، اوغيرمرتک دمرتکب په شان دی،اولاتۍ اودبره دتوري په شان دي .

تشريح:(۱)که دخلکويوجماعت کوم چې دخلکودلاري په بندولوقادروي دلاري شکولوپه قصدسره راووځي ياصرف يوقوی کس کوم چې دخلکودلاري په بندلوقادروي دلارشکولوپه نيت راووځي بياله دي څخه وراندي چې هغه دچامال ويسي ياڅوک قتل کړي ونيول شي نوامام المسلمين دي هغوئ بنديان کړي ،دلارشکونکوپه باره کې چې کوم ايت نازل شوی دی په هغه کې له ﴿اوينفوامن الارض﴾(يا دي له ځمکي څخه

نفي کړای شي)څخه همدا مراد دی ،له ځمکي څخه له نفي کولو څخه مرادبند دی ، اوترڅوچي توبه ونه کړي هغوئ دي په بندي خانه کې وساتي ،له توبي څخه مرادپه ژبه سره توبه نه بلکه مرګ یادصالحینو دنښو څرګندیدل دي .

(۲)اوکه دي لارشکونکو دلاري په شکولو سره دکوم مسلمان یاذمي مال واخیست نوکه دامال دومره اندازه وي چې که هغه پردي جماعت تقسیم کړای شي نوهریوه ته لس درهمه یاله دي څخه زیات رسیدل یاداسي شئ ووچې دهغه قیمت دومره مقداروي نودهغوئ لاس اوپښې به سرچپه وربري کیږي یعني راسته لاس اوچپه پښه دي ورپري کړي لقوله تعالی ﴿او تقطع ایدیهم وارجلهم من خلاف﴾ یعني یادي دهغوئ لاس اوپښې له مخالف جانب څخه پري کړای شي) .

(۳)او که دي لارشکونکوصرف څوک قتل کړي وي دچامال یې نه وي وړی نوامام به هغوئ حداًقتل کړي داقتل قصاص نه دی همدا وجه ده چې که دمقتولینو اولیاء هغوئ معاف کړي نودامعافي معتبره نه ده بلکه هغوئ به حداقتل کیږي ولی چې داحدمحض دالله تعالی حق دی دبندګانو دمعافولوپه دي کې هیڅ اثرنشته .

(۴)او که لارشکونکو څوک قتل کړي هم وواومال یې هم وړی وونوامام المسلمین ته دهغوئ په باره کې اختیاردی که یې خوښه وي نودهغوئ راسته لاس اوچپه پښه دي ورپري کړي اوقتل دي کړي یادي پردار وځروي اوکه یې خوښه وي نوصرف دي هغوئ قتل کړي اوکه یې خوښه وي نوهغوئ دي پردار وځروي لقوله تعالی ﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا ان يقتلوا او يصلبوا او تقطع ايديهم وارجلهم من خلاف﴾ (کوم خلک چې له الله ﷻ سره او دهغه له رسول ﷺ سره جنګ کوي او ه په ملک کې دفساد خپرولو کوشش کوي دهغوئ همدا سزاداده چې قتل دي کړای شي یا دي پردار وځرول شي یادي دهغوئ لاس اوپښې له مخالف طرف څخه پري کړای شي) .

(۵)کوم لارشکونکی چې پردارځروي هغه دي ژوندی پردار وځرول شي اوپه نیزه سره دي دهغه نس سوری کړای شي ترڅوچې هغه مړشي ولی چې داابلغ فی الزجرده ،پردارله ځړلو وروسته تردریوورځو پوري هغه زجراپردارځړیدلی پریښودل کیدای شي زیات نه ولی چې له دي څخه وروسته هغه خرابیږي اوله بدبویې څخه یې خلکوته ضرررسیږي .

(۶)که پرلارشکونکي حدجاري کړای شونوله مسروق منهم څخه اخیستل شوی مال که له هغه څخه تلف شوی وونودهغه تاوان پرهغه واجب نه دی یعني دهغه له ترکي څخه به دامال نه اخیستل کیږي لارشکول پرغلاقیاس دي کمامر .

(۷)غیر مباشر هم دمباشر په شان دی یعني که له لارشکونکو څخه دقتل فعل صرف یوه کړی وي نو هم به حد پرټولو جاري کیږي ولی چې باقی دهغه معاونین دي .

(۸)په لرګي اودبره سره قتل کول داسې دی لکه په توره سره قتل کول یعني لارشکونکو که یوڅوک په لرګي یادبره سره قتل کړنو پر هغه به حد جاري کیږي لکه څرنګه چې په توره سره دقتل کولوپه صورت کې

حد پر جاري کيږي ولی چې سزا په لار شکولو ده او لار شکونه په لاري دتګ کونکو په لاره شکولو سره متحقق کيږي خو اه که کومه آله هم استعمال کړای شي .

(۹) وَإِنْ أَخَذَ مَالًا وَجَرَحَ قُطِعَ وَبَطَلَ الْجَرْحُ (۱۰) وَإِنْ جَرَحَ فَقَطْ أَوْ قَتَلَ فَتَابَ (۱۱) أَوْ كَانَ بَعْضُ الْقُطَّاعِ غَيْرَ مُكَلَّفٍ أَوْ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنَ الْمَقْطُوعِ عَلَيْهِ (۱۲) أَوْ قَطَعَ بَعْضُ الْقَافِلَةِ عَلَى الْبَعْضِ (۱۳) أَوْ قَطَعَ الطَّرِيقَ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا بِمِصْرٍ أَوْ بَيْنَ مِصْرَيْنِ لَمْ يُحَدَّ (۱۴) فَأَقَادَ الْوَلِيُّ أَوْ عَفَا (۱۵) وَمَنْ خَنَقَ فِي الْمِصْرِ غَيْرَ مَرَّةٍ قُتِلَ بِهِ.

ترجمه: او که هغه مال واخيستی او زخمي يې کړ نو دهغه لاس او پښه به پري کيږي او باطليږي د زخم قصاص ، او که يې صرف زخمي کړيا يې قتل کړيا يې توبه وکړه ، يا ځيني لار شکونکي غير مکلف وي يا د مقطوع عليه ذی رحم محرم وي ، يا ډاکه واچوي بعض د قافلي والا پر بعضو نورو ، يا يې لار و شکوله په شپه کې يا په ورځ کې په ښار کې يا د دو ښارونو په منځ کې نو حد به نه جاري کيږي ، نو ولی دي قصاص واخلي يا دي معاف کړي ، او چا چې ترغاړه نيول وکړل څو ځله په ښار کې نو هغه به قتل کيږي د هغه په بدله کې .

تشريح: (۹) که لار شکونکی له يو چا څخه مال واخيست او خمي يې کړ نو د هغه راسته لاس او چپه پښه به پري کيږي او د زخم عوض باطل شو يعنی د زخمي کيدلو عوض به له هغه څخه نه اخيستل کيږي ولی چې کله د الله تعالی د حق پر ډول حد واجب شو نو د اطراف نفس عصمت ساقط شو لکه څرنګه چې د مال عصمت ساقطيږي کمامر .

(۱۰) قوله وان جرح فقط (معطوف عليه) او تر بين مصرين ، پوري ټول معطوفات تو سره په يو ځای کيدلو شرط دی او لم يحد يې جزاء ده . يعنی که لار شکونکی صرف څوک زخمي کړ نه يې مال وړی دی او نه يې څوک قتل کړی دی يا يې څوک قتل کړيا يې له ګرفتاري څخه وړاندي له لار شکولو څخه توبه وکړه نو د لار شکولو حد له هغه څخه ساقطيږي ولی چې له لار شکولو څخه وروسته په توبه کولو سره د لار شکولو حد ساقطيږي.

(۱۱) که په لار شکونکو کې کوم يو نابالغ يا ليونی يا کوم لار شکونکی له هغوئ څخه (پر کوم چې ډاکه اچول شوي ده) د کوم يوه ذی رحم محرم وو نو پر هغه حد نشته او له باقی لار شکونکو څخه هم حد ساقطيږي ولی چې لار شکونه يو جنايت دی کوم چې په ټولو پوري قائم دی نو کله چې له هغوئ څخه د ځينو فعل د صغر يا جنون يا قرابت په وجه سره د حد موجب نه شو نو د باقی پاتي شو يو فعل بعض علت شو لهذا پر هغه حکم (يعنی حد) نه مرتب کيږي .

(۱۲) که په قافله کې ملګرو بعضو پر بعضو ډاکه و وهله نو پر ډاکوګانو حد واجب نه دی ځکه حرز يو دی نو ټوله قافله ديوه کور په شان ده نو له حرز څخه د نه ايستلو په وجه سره حد نه واجبيږي .

(۱۳) که ډاکوګانو په شپه يا ورځ کې ډاکه و وهله يا يې د دوو ښارونو په منځ کې ډاکه و وهله نو استحسانا دوئ لار شکونکي نه شمارل کيږي که څه هم قياس مقتضی دی چې لار شکونکي شمار شي او حد پري جاري شي ولی چې لار شکونه متحققه شوه مګر استحسانا دوئ لار شکونکي نه شمارل کيږي ولی چې لار شکونه د مسافرو لار شکولو ته ويل کيږي او دا په ښار يا ښار ته نژدي نه شي کيدای ولی چې په

بنارو غيره کې دسلطان يا خلكو له طرف څخه مقطوع عليهم ته كومک رسيدلی شي په دي وجه د اكولاره نه شي بندولی لهذا الارشكو نه متحققه نه شوه .

(۱۴)په مذكوره صورتونو کې څرنګه چې حق عبد نه ساقطيږي لهذا دمقتول وارث ته اوس دا اختيار دی كه يې خوښه وي نو په كوموصورتونو کې چې قصاص دی په هغوصورتونو کې دي له هغه څخه قصاص واخلي او په كوموصورتونو کې چې قصاص نشته په هغو کې دي تاوان واخلي او كه يې خوښه وي نو معاف دي کړي ولی چې له لارشكولو وروسته په توبه كولو سره دلارشكولو حد له هغه څخه ساقطيږي مګر دبنده حق څرنګه چې په توبه سره نه ساقطيږي لهذا بنده ته دخپل حق دصول كولو حق شته.

(۱۵)كه كوم كس په بنار کې څو ځله په خپه كولو (ترغاړه نيولو)سره انسانان مړه کړي وي نو هغه به دهغو په عوض کې سياسة قتل كيږي ولی چې دا په ملک فسادخپرونكی دی لهذا صرف ديت كافی نه دی بلكه خلک دهغه له شر څخه دخلاصولو لپاره به هغه قتل كيږي او كه هغه يو ځل څوک په خپه سره قتل کړنو په دي صورت کې دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دهغه ديت دقاتل پر عاقله واجب دی ،دصاحبينو په نزد به له هغه څخه قصاص اخيستل كيږي.

ف:دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی ،لمافی الهندية :من خنق رجلا حتی قتله فالدية علی عاقلته عند ابی حنيفة رحمه الله (هندية:۲\۱۸۸).وفی البحر الرائق:لانه لو خنق مرة واحدة فلاقتل عند الامام والماتجب الدية علی عاقلة(البحر الرائق:۵\۶۹).وقال ابراهيم بن محمد الحلبی رحمه الله :وعنه (عن ابی حنيفة رحمه الله)المايجب (القصاص)اذاجرح وهو الاصح وعلی هذا الضرب بسنجات الميزان وكذاالخلاف فی كل مثقل وفی التغريق والخنق(ان كان مرة واحدة)يعنی لايقتص عندابی حنيفة رحمه الله خلافا لهما(مجمع الانهر:۲\۴۰۶)

كِتَابُ السِّيَرِ والجهاد

داكتاب دسير او جهاد په بيان کې دی

سير بكسرالسين وفتح الباء دسيرة جمع ده لغة طريقه او دڅوند طرز(دول) ته ويل كيږي كه خير وي او كه شر وي ،او په شريعت کې هغې طريقې ته ويل كيږي كومه چې نبی كريم ﷺ په غزواتو کې اختيار کړي ده .او جهاد لغة د جنګ او مقابله كولو په معنی دی او دشريعت په اصطلاح کې د اعلاء كلمة الله او د دين اسلام د نصرت لپاره خپل طاقت استعمالولو او دالله ﷻ په لاره کې مشقت او تكليف ګاللو ته ويل كيږي .له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې د حدودو او جهاد دواړو مقصد دالله ﷻ له بندګانو څخه فساد دفع كول دي ،بيا دحدود تعلق له مسلمانانو سره دی او دجهاد تعلق له كفارو سره دی په د يو جه يې حدود له جهاد څخه وړاندي ذكر کړل .

الحكمة ،الجهاد فی الاسلام هو قتال من يسعون فی الارض فسادا لتقويض دعائم الأمن والقلاق راحة الناس وهم آمنون فی ديارهم او الذين يثيرون الفتن من مكامنها اما بالحاد فی الدين وخروج عن الجماعة وشق عصاالطاعة أوالذين يريدو ن اطفاء نورالله ويناوئن المسلمين العداء ويخرجونهم من ديارهم وينقضون العهود ويحقرون بالذمم ،فالجهاد الذی هو لدفع الأذی والمكروه ورفع المظالم والذود عن المحارم، (حكمة التشريع)

(۱)الجِهَادُ فَرْضُ كِفَايَةٍ اِبْتِدَاءً اِنْ قَامَ بِهِ بَعْضٌ سَقَطَ عَنِ الْكُلِّ (۲)وَاِلَّا أَثِمُوا بِتَرْكِهِ (۳)وَلَا يَجِبُ عَلَى صَبِيٍّ وَامْرَأَةٍ وَعَبْدٍ وَأَعْمَى وَمُقْعَدٍ وَأَقْطَعَ (۴)وَفَرْضُ عَيْنٍ اِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ فَتَخْرُجُ الْمَرْأَةُ وَالْعَبْدُ بِلَا اِذْنِ زَوْجِهَا وَسَيِّدِهِ (۵)وَكُرِهَ الْجُعْلُ اِنْ وُجِدَ فَيْءٌ وَاِلَّا لَا.

ترجمه: جهاد ابتداء فرض كفايه دى نو كه وړيدل دهغه لپاره څه خلك نو ساقطيږي له پاتي ټولو كسانو څخه ،كه نه ګنهګاريږي دترك فرض په وجه سره ،او واجب نه دى پر نابالغ او ښځي ،او غلام او ړانده او شلي او په لاس او پښي پري شوي باندي ،او فرض عين دى كه دښمن حمله وكړي نو وځي دي ښځه او غلام بي له اجازي دخاوندا و مولى ،او مكروه ده مزدوري كه په بيت المال كې مال فئ موجود وي كه نه نو نه ده .

تشريح:(۱) جهاد ابتداء فرض كفايه دى كه يو څو كسانو كاوه نو له باقي ټول امّت څخه ساقطيږي ، فرض كفايه په دي وجه دى چې جهاد بنفسه نه دى فرض شوى ولى چې بنفسه جهاد خو افساد دى بلكه داعزاز دين او له خلګو څخه دشرك اوفساد دفتني ددفع كولو لپاره فرض شوى دى او كوم چې داسي وي هغه فرض كفايي وي لهذا دځينو كسانو په جاري ساتلو سره دحصول مقصود په وجه دباقي امت له ذمه څخه فرضيت ساقطيږي لكه دجنازي لمونځ او ردسلام وغيره .له ابتداءً فرض والى څخه مراد اقدامي جنګ دى يعنى كه دجنګ پيل دكفار و له طرف څخه نه وي نو بيا به هم مسلمانان په حمله كولو سره ددوئ قوت ماتوي لقوله تعالى ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾.همداشان په جنګ بدركې حضور ﷺ په خپله په ړاندي كيدلو سره دقريشو په تجارتي قافله حمله كول غوښتل،نو دا دشريعت له طرف څخه داقدامي جهاد اجازت دى .

(۲) قوله والآثموا بتركه اى وان لم يقم به البعض اثموا بتركه .يعنى كه دمسلمانانو څخه يو ډلې هم جهاد جاري ونه ساتو نو ټول مكلف امّت دجهاد په ترك كولو سره ګناه ګاريږي لتركهم فرضا عليهم.

(۳) يعنى پر نابالغ جهاد فرض نه دى ولى چې نابالغ مكلف نه دى ،او پر غلام او وجه باندي هم جهاد فرض نه دى ولې چې جهاد له حقوق الله څخه دى له كوم څخه چې دغلام دمولى حق او دښځې دخاوند حق مقدم دى ، همداشان پر ړانده، ګوډ،او پر هغه كس چې لاسونه يې پريشوي وي هم جهاد فرض نه دى ولى چې داكسان عاجزدي او تكليف دطاقت په اندازه وي ،په اوسني زمانه كې چې كوم كسان فوځي تربيت نه لري هغه هم په دي زمره (ټولي) كې دي .(قاموس الفقه :۲/۱۶۴)

ف:په فتاوى حقانيه كې دي:چې دافغانستان جهاد دنفير عام كيدلو په وجه سره فرض عين دى بيا هم پر كمزورو اووس نه لرونكو كسانو باندي دا ذمه وارى عائده نه ده بلكه دا ذمه واري داهل اقتدار او سربراهانو (دحكومت دچارواكو) ده په دي وجه كه څه هم په عوام الناس (عامو خلګو) دا جهاد فرض نه دى ليكن پر دوئ دمجاهدينو كومك او خواخوږي كول ضروري ده لماقال العلامة الكاساني رحمه الله في بدائع الصنائع ۷/۹۸: واما بيان من يفترض عليه فنقول انه لايفترض الا على القادر عليه فمن لاقدرة له لاجهاد عليه لان الجهاد بذل الجهد وهو الوسع والطاقة بالقتال او المبالغة في عمل القتال ومن لاوسع له كيف يبذل الوسع (حقانيه:۵/۲۸۸).

(۴) كه دښمن دمسلمانانو په يو ښار حمله وكړه نو الاقرب فالاقرب پر ټولو خلګو دهغه دفع كول واجب دي لقوله تعالى ﴿انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا﴾ يعنى ځوانان سپينږيري ټول ووځئ حتى چې ښځه به دخاوند له اجازي بغير وځي او غلام به دمولى له اجازي بغير وځي ولى چې په دي صورت كې جهاد دصلوٰة او صوم په شان فرض عين كيږي او دمولى او خاوند له حق څخه فرض عين مقدم دي .

(۵) كه مال فئ (فئ هغه مال دى چې له جنګ كولو څخه بغير وصول شوى وي لكه دخراج او جزيه په دول سره حاصل شوى مال) په بيت المال كې موجود وونو جعل (يعنى مجاهدينو ته د وركولو لپاره له خلګو څخه

روپۍ وصول کول)مکروه دی ولی چې دا پر طاعت باندي دمزدوري اخيستلو سره مشابه ده دکوم چې هيڅ ضرورت نشته په دي وجه چې بيت المال دهمدي لپاره دی چې دمسلمانانوپه کارراشي هوکه بيت المال خالي وي نوبيابه دي کې څه حرج نشته چې ځيني مسلمانانونوروته قوت ورکړي ولی چې په دي په معمولي ضررسره دلوی ضرر(يعنی دکفاروضرر)دفع کول دي.

(٦)فإن حاصَرنَاهم نَدعُوهم إلى الإسلام فإن أسلموا (٧)وإلا إلى الجزية فإن قبلوا فلهم مالنا وعليهم ما علينا (٨)ولا نقاتل من لم تبلغه الدعوة إلى الإسلام (٩)وندعو ندبا من بلغته (١٠)وإلا نستعين بالله تعالى ونحاربهم بنصب المجانيق وحرقهم وغرقهم وقطع أشجارهم وإفساد زروعهم

ترجمه:نو که موږ کافران محاصره کړونو هغوئ ته به د اسلام دعوت ورکوونو که هغوئ مسلمان شول نو ښنه ده ،که نه نو د جزيه ورکولو به ورته وايونو که هغوئ قبول کړه نو هغوئ لره هغه دي کوم چې موږلره دي اوپرهغوئ هغه دي کوم چې پرموږ دي ،اوموږبه جنګ نه کوو له هغوسره کوموته چې نه وي رسيدلی داسلام دعوت ،او استحبابا به داسلام دعوت ورکوو کوموته چې دعوت رسيدلی وي ،که نه نو موږبه له الله تعالی څخه په کومک غوښتلوله دوئ سره جنګ کوو دمنجنيق له نصب کولو ،دهغوئ له سوځولو ،دهغوئ له ډوبولو ،دهغوئ ددرختوله پرې کولواو دهغوئ دکښت له بربادولو سره .

تشريح :(۶)کله چې مسلمانان دارالحرب ته په داخليدلو سره کوم ښاريا قلعه محاصره کړي نوله ټولو وړاندي دي کافرانو ته داسلام قبلولو دعوت ورکړي ولی چې حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي﴿ماقاتل رسول الله صلى الله عليه وسلم قوما قط إلا دعاهم إلى الإسلام﴾ (يعنی نبیﷺ له يو قوم سره داسلام ددعوت ورکولو بغير قتال نه دی کړی).نوکه هغوئ داسلام دعوت قبول کړ نو مسلمانان دي له هغوئ سره جنګ نه کوي ولی چې مقصود حاصل شو﴿وقدقال ﷺ أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا لا إله إلا الله﴾(يعنی زه مأمور يم چې له خلکوسره به تر هغو قتال کوم تر څو چې هغوی لااله الاالله وايي).

(٧)قوله والاالى الجزية اى وان لم يسلموا ندعوهم الى اداء الجزية .يعنی که هغه خلکو داسلام دعوت قبول نه کړ نو له هغوئ څخه به جزيه (دځمکې محصول ،ټيکس چې له ذمی څه اخيستل کيږي)طلب کړي ولې نبی ﷺ به چې کله لشکر دجهاد لپاره ليږداوو نو دلشکر امير ته به يې همدا حکم کاوه ،په دي شرط چې هغوئ مرتدين نه وي،نو که هغوئ جزيه ورکول قبول کړل نو هغوئ دمسلمانانو ذميان شول لهذادهغوئ لپاره به هغه اسانتياوي وي کومې چې دمسلمانانولپاره وي يعنی دهغوئويني اومالونوبه دمسلمانانو دمالونوپه شان محفوظ وي ولی چې هغوئ جزيه ورکول دهمدي لپاره قبول کړي دي اوپرهغوئ به هغه ذمه واريانې وي کومې چې پرمسلمانانودي يعنی که له هغوئ څخه دکوم قسم ظلم صدوروشو نودهغه به هغه سزاوي کومه چې مسلمان ته ورکول کيږي.

(٨)له داسې کافرانوسره به موږقتال نه کوو کومو ته چې داسلام دعوت نه وي رسيدلی ولی چې په دعوت ورکولوسره به هغوئ وپوهيږي چې موږله هغوئ سره ددين لپاره جنګيږودهغوئ دمال دوړلويادهغوئ داولاددبندي کولولپاره نه. نواميددی چې هغوخلکوپه اسلام قبلولو سره به موږدقتال له مشقت څخه خلاس شو.

(۹)او کومو کفاروته چې داسلام دعوت رسیدلی وي هغوئ ته هم له قتال شروع کولو وړاند ي داسلام دعوت ورکول مستحب دی مګر واجب نه دی ولې چې دعوت هغوئ ته رسیدلی دی ،لیکن دتشهیراسلام وروسته اوس دا حکم نه دی ولی چې اوس هر کافرته معلومه ده چې مسلمان دکوم شي لپاره جنګیږي،پردي بالاپه دعوت ورکولوسره هغوئ کله دخپل حفاظت داسي بندوبست کوي (تاییاتړي) چې بیاپرهغوئ قبضه کول مشکل کیږي .

(۱۰)قوله والا نستعين بالله تعالى اى وان لم يقبلو الجزية نستعين بالله تعالى .یعنی که کفارو د اسلام له قبلولو او جزیه ورکولو څخه انکار وکړ نو مسلمانان دي له الله ﷻ څخه کومک وغواړي او له هغوئ سره دي قتال شروع کړي ولی چې الله ﷻ دخپلو اولیاء مرسته کونکی دی او دخپلو دشمنانوهلاکونکی دی نو په ټولو امورو کې له الله ﷻ څخه مدد غوښتل په کاردی ،اوس به مسلمانان له کفاروسره دمنجنیق (دایوه آله ده چې په هغې سره به لويې لويې ډبري ویښتل کیدلي ،دډبري ویښتلوپخوانی لاسي مشین دی ، مراد دادی چې دخپل دور اسلحه دي استعمال کړي)په نصب کولوجنګ کوي ولی چې نبی کریم ﷺ پرطائف منجنیق نصب کړی وو.او هغوئ دي په اورکې وسوځوي (یعنی دهغوئ کورنو ،باغونه اواسباب وغیره)ولی چې نبی کریم ﷺ دیهود دبنونضیر درختي سوځولي وي ،اوپرکافرانودي اوبه ورایله کړي یعنی که دهغوئ دغرق کولو موقع وي نو غرق دي کړي ،اودهغوئ درختي دي پرې کړي او کښتونو دي ورخراب کړي ولی چې په دي سره دهغوئ شوکت ختم اوجماعت متفرق کیږي په دي وجه دامشروع اعمال دي .

(۱۱)وَرَمْيِهِمْ وَإِنْ تَتَرَّسُوا بِبَعْضِنَا وَنَقْصِدُهُمْ (۱۲)وَنُهِينَا عَنْ إِخْرَاجِ مُصْحَفٍ وَامْرَأَةٍ فِي سَرِيَّةٍ يُخَافُ عَلَيْهَا (۱۳)وَغَدْرٍ وَغُلُولٍ وَمُثْلَةٍ (۱۴)وَقَتْلِ امْرَأَةٍ وَغَيْرِ مُكَلَّفٍ وَشَيْخٍ فَانٍ وَأَعْمَى وَمُقْعَدٍ (۱۵)إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَحَدُهُمْ ذَا رَأْيٍ فِي الْحَرْبِ أَوْ مَلِكًا.

ترجمه:اوپرهغوئ دغشوپه وارولوسره که څه هم هغوئ له موږ څخه څیني سپر(ډال)جوړکړي او موږبه دهغوئ قصد کوو ، اوموږمنع کړل شویيو دقران مجیداوښځې په داسي لښکرکې له وړلو څخه په کوم کې چې پردوئ ویره وي،او له عهد ماتولو څخه اوپه مال غنیمت کې له خیانت کولو څخه اوله مثله کولو څخه ،اودښځې اوغیر ملکف اوسپین ږیري اوړانده اوشلی له وژلو څخه ،مګردا چې له هغوئ څخه ذی رأی وي دجنګ په امورو کې یاباد شاه وي .

تشریح:(۱۱)قوله ورميهم وان تترسوا ببعضنا اى ونحاربهم برميهم وان تترسوا ببعضنا .یعنی له کافرانوسره به په ډبرو او غشو جنګ کوو که څه هم مسلمانان بندي یامسلمانان تاجر دهغوئ په منځ کې موجود وي او هغوئ هغه دځان لپاره سپرجوړکړي ولی چې په ویښتلو کې له مسلمانانو څخه دفع دضرر عام ده او دبندي او تاجروژل ضررخاص دی اودضررعام په نسبت دضررخاص قبلول اسهل دي ،البته په غشواوډبرو ویښتلوکې نیت دکفارو کوو ولی چې فعلاًخواوس په مسلمانانو او کافرانو کې تمیزکول ممکن نه دي حال دا چې په نیت کې داامتیازممکن دی اوطاعت دقدرت په اندازه وي لهذانیت به دکافرانو کوي .

(۱۲)او موږمنع کړل شوی یو دقران مجیداوښځې په داسي لښکرکې له وړلو څخه په کوم کې چې پردوئ ویره وي یعنی که دمسلمانانوټولی کوچنی وي (کومې ته چې سریه ویل کیږي)پرکومه چې ډیراطمینان نه وي نو بیا دښځواوقران کریم له ځان سره وړل مکروه دي ولی چې په داسي صورت کې دهغوئ

دضائع کيدلواو دهغوئ داستخفاف خطره ده ،البته که دمسلمانانو جماعت لوی وودیره پرهغوئ ديره خطره نه وه نودښځواوقران مجيدله ځان سره په ورلوکې څه مضائقه نشته ولی چې غالب حال دسلامتيا دی والغالب كالمتحقق.

(۱۳)قوله وغدر وغلول ای ونهيناعن غدر وغلول . مسلمان له غدر ،او غلول ،او مثله ،کولو څخه منع کړل شوي دي يعنې مسلمان به دجنګ بندی، وعده نه ماتوي او غلول (دغنيمت له مال څخه غلاکولو ته غلول وايي)به نه کوي او ددشمن مثله (دمقتول دپوزي ،او غوږونو وغيره په پرې کولوسره دشکل خرابولو ته مثله وايي)به نه کوي﴿لقوله ﷺ لاتغلوا ولاتغدروا ولاتمثلوا﴾(يعنی دغنيمت مال مه غلاکوئ او وعده مه ماتوئ او مثله مه کوئ).

(۱۴)قوله وقتل امراة وغير مكلف ای ونهيناعن قتل امراة وغير مكلف .مسلمان ددشمن دښځي ،او غيرمکلف ،او سپين‌ږيرې،او دړانده،او دشل،له وژلو څخه منع کړل شوي دي يعنې پر مسلمانانو واجب دی چې ددشمن قوم ښځي،او کوچنيان ،او شيخ فاني،او ړوند ،او ګوډ،به نه قتل کوي ولی چې مو ږته صرف دجنګ کونکوقتل مباح دی او دا خلک اهل قتال نه دي .

(۱۵)البته که له دې خلکو څخه کوم يوه په جنګي معاملاتو کې رأيه ورکوله نو هغه به هم قتل کيږي ولی چې دشمن دهغه له رأيې څخه استعانت حاصله وي ،همداشان که دوئ کوم يو دهغوئ باچاوو نوهم به قتل کيږي ولی چې دده په وژلوسره ددښمن جماعت پاشل کيږي .

(۱۶)وَقَتْلِ أَبٍ مُشْرِكٍ وَلْيَأْبَ الِابْنُ لِيَقْتُلَهُ غَيْرُهُ(۱۷)وَيُصَالِحُهُمْ وَلَوْ بِمَالٍ إنْ خَيْرًا(۱۸)وَنَبْذُلُو خَيْرًا(۱۹)وَنُقَاتِلُ بِلَا نَبْذٍ لَوْ خَانَ مَلِكُهُمْ (۲۰)وَالْمُرْتَدِّينَ بِلَا مَالٍ فَإِنْ أَخَذَ لَمْ يَرُدَّ(۲۱)وَلَمْ نَبِعْ سِلَاحًا مِنْهُمْ(۲۲)وَلَمْ نَقْتُلْ مَنْ أَمَّنَهُ حُرٌّ أَوْ حُرَّةٌ(۲۳)وَنَبْذُلُو شَرًّا(۲۴)وَبَطَلَ أَمَانُ ذِمِّيٍّ وَأَسِيرٍ وَتَاجِرٍ (۲۵)وَعَبْدٍ مَحْجُورٍ عَنْ الْقِتَالِ.

ترجمه :او منع(کړل شوی دیی)دمشرک پلار له قتل کولو څخه او زوی دي منع شي تر څو قتل کړي هغه لره کوم بل څوک، او موږ به له دوئ سره صلح کووکه څه هم په مال سره وي که په صلح کې خيرو و ، او موږ به صلح ماتووکه په دې کې خيرو و او له هغوئ سره به جنګ کووله صلح ماتولو بغير که خيانت وکړ دهغوئ بادشاه ،اوله مرتدينو سره به صلح کووله مال اخيستلو بغيرا وکه واخيستل شونوبيرته به نه ورکول کيږي، او موږ به نه خر څووپردوئ اسلحه، او موږ به جنګ نه کووله هغه سره کوم ته چې پناه ورکړه کوم ازادنارینه یا ښځې، او ماتووبه يې که پناه ورکول زموږ لپاره شرو و ،او باطله ده پناه ورکول دذمی او بندي او تاجر، اوله قتال څخه دمنع شوی غلام .

(۱۶) قوله وقتل اب مشرک ای ونهيناعن قتل اب مشرک ،يعنی که دچا پلار مشرک وي په خپله دي دقتلولو لپاره نه ورمخته کيږي لقوله تعالی﴿وصاحبهما فی الدنيا معروفا﴾(يعنی په دنياکې له والدينو سره په ښه طريقه ژوند وکړه) بس نودلته له پلار سره ښه دادي چې په خپله دي په وړاندي کيدنو سره ، وژني بلکه څنګ ته دي شي ترڅو چې کوم بل څوک يې قتل کړي،ليکن که پلار حمله وکړه ، او دځان دژغورني ښه طريقه نه وه،نو بيا دپلار په قتلولو کې څه حرج نشته،ولی چې دا له خپل نفس څخه دفاع ده اوخپل ژوندته دپلار په ژوند په ترجيح ورکولو کې څه حرج نشته ، همدا وجه ده چې که پلار او ځوئ دوا ړه تږي وي اوله ځوئ سره دومره

اوبه وي چې ديوه کس لپاره کافي وي نو ځوئ ته داجائز دی چې اوبه په خپله وڅښي که څه هم پلار يې له تندي مړکيږي.

(١٧) که دمسلمانانو امام (پاچا) دمسلمانانو لپاره دابنه وګڼله چې داهل حرب يا داهل حرب له يوفرقې (ډلي) سره پرترک قتال (جنګ نه کولو) باندي صلح وکړي اوپه دې صلح کې دمسلمانانو فايده هم وي نوپه دي کې څه حرج نشته که څه هم په صلح کې دوئ ته مال ورکړي يايې له دوئ څخه واخلي، ولی چې په مصالحت کې دمسلمانانو فائده وي نودامعنی جهاد دی په دي وجه چې دجهادمقصود اصلی (يعنی دفع شر)حاصل شو.

(١٨) که امام (پاچا) له کافرانوسره تر يوې مودې پوري صلح وکړه، بيايې دصلحي په ماتولو کې دمسلمانانو لپاره خير وليدی ،نوامام دي دصلحي دماتولو خبر کافرانو ته ور وليږي بيادي له دوئ سره جنګ شروع کړي ،ولی کله چې دمسلمانانو مصلحت بدل شو نوبيا دعهد ماتول جهاد دی . اوپه داسي حال کې وعده پوره کول ظاهراً اومعنی ترک جهاد دی ، په دي وجه به عهد ماتوي.

(١٩) اودوعدې دماتولو دخبرله ورليږلو بغير موږ له کافرانوسره جنګ کولی شو خوپه دې شرط چې که دکافرانو پاچاابتداء وعده ماته کړه يعنی چې زموږ اودوئ په مابين کې کومه وعده شوې وه هغه دوئ ماته کړه اوپرموږ يې حمله وکړه نوامام المسلمين به دوئ ته دعهد دماتولو خبرنه وروليږي ولی کله چې دوئ په خپله عهدمات کړنو اوس دعهد دماتولو دخبرورکولو حاجت پاتې نه شو.

(٢٠) قوله والمرتدين بلامال ای نصالح المرتدين لو کان الصلح خيراً، يعنی که له مرتدينو سره په صلح کې خير وو نوموږ له دوئ سره هم صلح کولای شو ولی چې ددوئ داسلام قبلولو اميدشته لهذا له دوئ سره په جنګ کولو کې ځنډ کول صحيح دی،اوله دوئ سره بغيرله مال اخيستلوصلح کوي ولی چې له دوئ څخه مال اخستل جزيه (ټيکس) ده اوله دوئ څخه جزيه اخستل جائزنه ده ،اوکه له دوئ څخه مال واخيستلی شونوهغه به دوئ ته بيرته نه ورکول کيږي ولی چې داغيرمعصوم مال دی اوپه بيرته ورکولو کې ددوئ اعانت دی.

(٢١) مسلمان دي پرکافرانواسلحه نه خرڅه وي ،يعني پرکافرانوباندي اسلحه خرڅول جائزنه دي ،ولی چې نبی ﷺ پرکافرانو باندي داسلحې له خرڅولو څخه منع کړې ده ،اوهمدراز پردوئ باندې داسلحې په خرڅولو کې دوئ ته دمسلمانانوپرخلاف په جنګ کولو کې قوت پيداکيږي.

(٢٢) که له موږ څخه يو ازادسړي يا ازادې ښځې يو کافرته،يادکافرانويو جماعت ته، ياد يوقلعي والاته،ياديوښاروالا ته،امن ورکړ نودا امان ورکول صحيح دی ،اوس له موږ څخه يوه ته هم ددوئ وژل جائزنه دي، ولی چې نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چې دمسلمانانووينه په خپل منځ کې سره برابره ده اوددوئ دذمه واري لپاره ددوئ ادنی هم سعی کوي يعنی که ادنی هم چاته پناه ورکړي نو هغه دټولو پرذمه لازميږي.

(۲۳) البته په موړکې كه ديوچاپه داسي امن ورکولو کې دمسلمانانولپاضررروو،نو دمسلمانانوامام (پاچا) دي و دوئ ته دعهدماتولو خبر ورولیږي ،لكه څرنگه چې امام په خپله امن ورکړی وي ،بیاپه عهد ماتولو کې مصلحت معلوم شي نودعهدماتولو خبر ورلیږي.

(۲۴) كه ذمي كوم كافرته امان ورکړ نوداجائزنه دی ولی چې ذمي كافرانوته په امن ورکولو کې متهم دی،همداشان كوم مسلمان چې له دوئ سره بندي دی یامسلمان داسي تاجر وي كوم چې ددوئ طرف ته ځي ، نوددوئ كوم كافرته امن ورکول هم جائزنه دی ولی چې په دي شان سره خوبه كفارهروخت زموږدكوم بندي ياتاجرپه موندلوسره له دهٔ څخه په امان اخيستلوسره خلاسیږي نوپه دي شان به په مجاهدينود فتح دروازي وتړلي شي.

(۲۵) قوله وعبدمحجور عن القتال اى وبطل امان عبدمحجور عن القتال ،یعني دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد زموږدكوم محجورعن القتال(له جنگ څخه منع شوی)غلام كوم كافرته امان ورکول هم جائزنه دی ولی چې امان ورکول هم یو عقددی اوغلام محجورعن العقوددی لهذادغلام امان ورکول صحیح نه دی ،البته كه دده مولی ده ته دجنگ كولواجازت ورکړی وي نوبیادده امان ورکول صحیح دی ولی چې په اجارت فی القتال سره دی مأذون گرځي نودده عقدامان هم صحیح دی ،دصاحبينوپه نزددغلام كوم كافرته امان ورکول صحیح دی ولی چې غلام هم مؤمن اوصاحب قوت دی نودده امان ورکول صحیح دی لكه چې دهغه غلام امان ورکول صحیح دی كوم ته چې دقتال اجازه ورکړل شوي وي.

ف: دامام ابوحنيفه رحمه الله راجح دی، لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله وبطل امان ذمی.... واسير وتاجروصبی وعبدمحجورين عن القال وصحح محمدامان العبد (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار: ۳/۲۵۰) وقال العلامة اكمل الدين البابرتي: وفيه سدباب الاستغنام اى علي المسلمين وذالک ضررفي حقهم فاذاكان ممنوعاعن الضرر للمولي فكيف يصح منه مايتضرر للمولي والمسلمين (العناية على هامش فتح القدير: ۵/۲۱۳) وفي اللباب: وذكرالكرخي قول ابي يوسف مع ابي حنيفه ومشى عليه الائمة البرهاني والنسفي وغيرهماالصحيح (اللباب على هامش الجوهرة: ۲/۳۳۸)

بَابُ الْغَنَائِمِ وَقِسْمَتِهَا

دا باب دغنيمتونو اودهغو دتقسيم په بيان کې دی

دجهادپه نتیجه کې خوغنيمت حاصليږي په دي وجه يې له حكم جهادڅخه وروسته دغنائموتفصيل بيان کړی دی ،غنيمت په لغت کې بې له تكليفه ديوشئ حاصليدلوته واي ،اودفقه په اصطلاح کې غنيمت هغه مال ته ويل كيږي ، كوم چې دجهاد فی سبيل الله په ذريعه په زور له حربي كافرانو څخه حاصل شي ، اوفئ هغه مال ته ويل كيږي كوم چې دصلح په ذريعه له حربي كافرانوڅخه حاصل شوی وي ،اونفل هغه اضافه انعام ته ويل كيږي ،كوم چې د امير له طرف څخه د مجاهدينويوي خاصي ډلگی ته اعلان کړل شي ،مثلا دمجاهدينو كوم جماعت چې فلانی قلعه فتح کړي هغوئ ته به دهغي قلعي له مال غنيمت څخه نصف ورکول كيږي.

(۱) مافتح الإمام عنوة قسم بيننا او اقرّ أهلها ووضع الجزية والخراج (۲) وقتل الأسرى او استرقّ أو ترك أحرارا ذمّة لنا وحرم ردهم إلى دار الحرب (۳) والفداء (۴) والمنّ (۵) وعقر مواش شقّ إخراجها فتذبح وتحرق (۶) وقسمة الغنيمة في دارهم لا للإيداع (۷) وبيعها قبلها

ترجمة:كوم چې امام قهرا (په زور) فتح كړي هغه دي زموږ په منځ كې تقسيم كړي،يادي دهغه ځاى اوسيدونكى پرهغه خلګ برقرار پرېږدي ،اومقرره دي كړي جزيه اوخراج ، اوبنديان دي قتل كړي ،يادي غلامان جوړ كړي ،اويادې ازاد پرېږدي په ذمي جوړولوسره ،اوحرام دى دهغوئ دارالحرب ته واپس كول ، اوفديه څنې اخستل ،اواحسان ورسره كول ، اوخمې كول دهغو څارويو چې راوستل يې مشكل وي ،نوذبح (حلال)دې كړي او ودې سوځوي ،اوتقسيم كول دغنيمت په دارالحرب كې ،نه په امانت وركول ، اوخرڅول دهغه له تقسيم څخه وړاندي.

تشريح :(۱)كه امام كوم ښارپه جنګ فتح كړنوده لره دهغه ځاى په څمكوكې اختياردى كه يې خوښه شوه نودهغوخمس دي جلاكړي اوباقى مال دي په مجاهدينوتقسم كړي لكه نبى كريم ﷺ چې خيبرتقسم كړى وواوكه يې خوښه شوه نودهغه ځاى خلګ دي پرهغوبرقراروساتي ،اوپردوئ دي جزيه اوپرځمكودي خراج مقرركړي ولى چې حضرت عمر ﷺ په عراق كې دصحابه كرام ﷺ په موافقت همدشان كړي وو.

(۲) دمسلمانانو امام ته دبنديانو په حق كې دري قسمه اختيار دي،كه خوښه شوه قتل دي كړي ولى چې نبى كريم ﷺبنو قريظه قتل كړي وو،همدرازترڅوچې دفساد ماده بالكل ختمه شي،اوكه يې خوښه شوه نوهغوئ دي غلامان جوړ كړي،ولى چې په دې كې دفع دشرهم ده ،اودمسلمانانولپاره ډېره فائده هم ده ،اوكه يې خوښه شوه نوهغوئ دي ازادپرېږدي اودمسلمانانوذميان دي جوړ كړي ،لكه څرنګه چې عمر ﷺ دعراق له خلګوسره كړي وو ،مګرداجائزنه ده چې بنديان دارالحرب ته واپس كړي ولى چې په دې شان كولوسره حربيانوته دمسلمانانو په خلاف قوت حاصليږي .

(۳) والفداء والمن اى حرم الفداء والمن ، دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد كافرقيدي (بندي) دمسلمان قيدي په بدل كې خلاصول جائزنه دى،ولى چې په دې كې دكفارومعونت دى ،په دې وجه چې داكافرچې ولاړشي بيابه له موږسره جنګيږي، اوصاحبين فرمايي چې دمسلمان بنديانو په عوض كې ددوئ خلاسول جائزدي ولى چې په داشان كولوكې دمسلمان تخليص (يعنى دكفاروله بندڅخه ازاديدل)دي اوتخليص مسلم له قتل كافرڅخه ښه دى .همداشان په كافربنديانوباندي احسان كول هم جائزنه دي (چې نه يې غلام جوړكړي اونه يې قتل كړي بلكه ازاديې كړي)ولى چې په دې كې دغانمينودحق ابطال دى .

ف : دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى،لمافى اللباب والصحيح قول ابى حنيفه رحمه الله واعتمده المحبوبى والنسفى وغيرهما قال الزاهدى والمفادات بالمال لايجوز فى ظاهر المذهب كذافى التصحيح (اللباب على هامش الجوهره:۲/۳۳۶)

(۴)قوله وعقرالموشى شق اخراجها اى حرم عقرالموشى شق اخراجها ،يعني كه امام له دارالحرب څخه دارالاسلام ته دتلو اراده وكړه اوله امام سره دكافرانو څاروي هم وو،نوكه دارالاسلام ته دهغو راوړل مشكل وو،نو هغه دي دېښوپه پريكولوسره ژوندي نه پرېږدي ولى چې په دې كې دحيوان تعذيب دى ،اونه دي دكافرانولپاره ژوندي پرېږدي ترڅوهغوئ له دې څخه فائده حاصله نه كړي بلكه امام به داڅاروي ذبح كړي اووبه يې سوځوي ولى چې څاروي دصحيح مقصدلپاره ذبح كول جائزدي اوله دې څخه زيات صحيح مقصدڅه كيداى شي چې په دې سره دكافرانوقوت اوشوكت ماتيږي ،اوله ذبح كولوڅخه وروسته دي وسوځوي ترڅوچې كافران له هغوڅخه هيڅ قسم فائده وانه خلي .

(۵) قوله وقسمة الغنيمة في دارهم اي وحرم قسمة الغنيمة في دارهم ،يعني د امام لپاره په دارالحرب کې دغنيمت تقسيمول جائزنه دی،ولی چې نبی ﷺ په دارالحرب کې دغنائمولو خرڅولو څخه منع فرمايلې ده اوقسمت معنی بيع ده ،هوهغه دي دارالاسلام ته رواړي اوبيا دی تقسيم کړي ول چې دارالاسلام ته په راوړلو سره هغه محفوظ کيږي اوپه مال غنيمت کې دمجاهدينو ملک ثابتيږي .

(۶) قوله لا الايداع اي لايحرم ايدع الغنيمة عندالغانمين ،يعني مال غنيمت په دارالحرب کې مجاهدينو ته دامانت په ډول سره ورکول حرام نه دي ،يعني که امام ته په دارالحرب کې غنائم په لاس ورغلل اوله امام سره دومره ځاروي اوباروړونکې اسباب نه وي چې په هغوغنائم بارکړي اودارالاسلام ته يې رواړي نودامانت په ډول دي په مجاهدينو تقسيم کړي ترڅوهغوئ دااموال غنميت دارالاسلام ته رواړي ولی چې مال غنيمت اوسورلي ټول دمجاهدينو دي بيادي له ټولو څخه راجمع کړي اوتمليکادي ددوئ په منځ کې تقسيم کړي .

(۷) قوله وبيعها قبلها اي وحرم بيعها قبلها،يعني ترتقسيم وړاندي په دارالحرب کې دمال غنيمت خرڅول هيچاته هم جائزنه دي،ولی چې په حديث کې له دي څخه منع راغلي ده ،اوهمدرازله تقسيم څخه وړانديې هغه مالک نه دی .

(۸) وَشَرِکَ الرِّدْءُ وَالْمَدَدُ فِيهَا (۹) لَا السُّوقِيُّ بِلَا قِتَالٍ (۱۰) وَلَا مَنْ مَاتَ فِيهَا وَبَعْدَ الْإِخْرَازِ بِدَارِنَا يُورَثُ نَصِيبُهُ (۱۱) وَيَنْتَفِعُ فِيهَا بِعَلَفٍ وَطَعَامٍ وَحَطَبٍ وَسِلَاحٍ وَدُهْنٍ بِلَا قِسْمَةٍ وَلَا بَيْعِهَا (۱۲) وَبَعْدَ الْخُرُوجِ مِنْهَا لَا وَمَا فَضَلَ رُدَّ إلَى الْغَنِيمَةِ

ترجمه: په مال غنيمت کې شريک دي د کومک والا اومددوالا ،نه بازاري خلک بغيرله جنګ څخه ،اونه هغه خلک چې په دارالحرب کې مړه شي ،اوپه دارالاسلام کې ترجمع کولو وروسته به دهغه حصه وارثانوته ورکول کيږي ،اونفع اخستلای شي په دارالحرب کې له چاري (دځارويو خورک) څخه اوله ډوډي څخه اوله لرګو څخه اوله اسلحې څخه اوله تيلو څخه له تقسيم کولو څخه بغير ، اوخرڅوي دې نه هغه، اوله دارالحرب څخه تروتلو وروسته دي نفع نه ورباندي اخلي ،اوڅه چې پاتي شي نوردي کړي غنمت ته .

تشريح:(۸) يعني په لښکر کې له جنګ کونکوسره رد، (هغه مددګار چې دمباشرومجاهدينو ترشا ولاړوي که ضرورت پيښ شي نومجاهدين په دوئ باندي قوت حاصلوي) هم دغنيمت په حصه کې برابر شريک دي، ولی چې په سبب کې داوړه سره برابر دي ،اوسبب ددارالحرب له سرحده وراوښتل دي،ياپه جنګ کې حاضرېدل دی،اوکه مجاهدينو تر واسه له دارالحرب څخه دغنيمت مال نه وو را ايستلی چې مددرګارلشکر (دمجاهدينودارالحرب ته له داخلېدلو وروسته چې کوم دمدد لپاره ور شي) په دارالحرب کې له مجاهدينوسره يوځای شو نومددګار هم له دوئ سره په مال غنيمت کې شريک دي ولی چې دفوځ له استقرارملک څخه وړاندي ددوئ له طرف څخه معنی جهادمتحقق شو .

(۹) قوله لا السوقي اي لايشارک السوقي ،يعنی په مال غنيمت کې دلښکر دبازار والا(يعني له لښکر سره چې کوم بازاردی په هغه کې تجارت کونکي په لښکرکښي شامل دي ليکن ددوئ مقصد جنګ کول نه دی خپل تجارت کول دي)شريک نه دي،ولی چې هغوئ په قصد دجنګ له سرحد څخه نه دي اوښتي،نودسبب دنيستي والي له کبله دوئ دغنيمت حقدار نه دي ،هوکه دوئ هم په جنګ کې شريک شول ،نودوجودسبب په وجه سره به هغوئ هم دغيمنت مستحق وي .

(۱۰) که کوم مجاهد په دارالحرب کې مړ شو ،نو د مال غنیمت دارالاسلام ته له راوړلو ورسته د ده په مال غنیمت کې هیڅ حق نشته ،یعني د ده وارثانو ته به د ده حصه نه ورکول کیږي،ولې چې میراث خو د مورث په ملک کې جاري کیږي ،او مال غنیمت دارالاسلام ته له راوړلو څخه وړاندې د مورث ملک نه دی ، او که دارالاسلام ته د مال غنیمت له راوړلو څخه وروسته کوم مجاهد مړشي ،نو د ده حصه به د ده وارثانو ته ورکول کیږي ،ولې چې د وارثانو حق په دې کې د مورث په واسطه سره ثابت شوی دی.

(۱۱) د مسلمانانو د لښکر لپاره جائز دی،چې په دارالحرب کې له مال غنیمت څخه له تقسیم کولو بغیر خپلو څارویو ته د هغه ځای واښه وغیره ورکړي،او په خپله هم د خوراک له شیانو څخه (مثلا ډوډۍ غوښه) خوراک کولای شي،او همداشان د هغه ځای لرګي سوځولای شي،او د هغه ځای تیل استعمالولای شي،ولې چې نبی کریم ﷺ د خیبر په موقع وفرمایل «کلوها واعلفوها ولاتحملوها» ویې خورئ او خپلو څارویو ته یې وروخوروئ،له ځان سره یې مه وړئ ،او همدا راز د دې شیانو د استعمالولو ضرورت وي، مګر مذکوره شیان دې نه خرڅوي ولې چې مال غنیمت دارالاسلام ته تر راوړلو وړاندې د هغه ملک نه دی.

(۱۲) کله چې مسلمانان له دار الحرب څخه راووځي نو د دوئ ته جائز نه ده چې له مال غنیمت څخه خپلو څارویو ته څه وروخوروي،یا د خورک څښک له شیانو څخه په خپله څه وخوري،ولې چې اوس دا مال د غانمینو مشترک ملک دی،او له مشترک مال څخه د شریک له اجازې بغیر فائده اخیستل جائز نه ده ،همدا راز اوس د اباحت وجه یعنی ضرورت پاتې نه شو په دې وجه هم جائز نه ده ،بلکه له کوم مجاهد سره چې د څارویو واښه یا خورک پاتې شي نو هغه دې په مال غنیمت کې جمع کړي ولې چې اوس په دې کې د غانمینو حق مستحکم شو کمامر.

(۱۳) وَمَنْ أَسْلَمَ مِنهم أَحرَزَ نَفْسَهُ وَطِفْلَهُ (۱۴) وَكُلَّ مَالٍ معهُ أو وَدِيعَةً عِندَ مُسْلِمٍ أو ذِمِّيٍّ (۱۵) دُونَ وَلَدِهِ الْكَبِيرِ وَزَوْجَتِهِ وَحَمْلِهَا (۱۶) وَعَقَارِهِ وَعَبْدِهِ الْمُقَاتِلِ

ترجمة:او که چا اسلام قبول کړ له دوئ څخه نو هغه محفوظ کړ خپل ځان او خپل کوچني اولادونه ،او هر هغه مال چې له ده سره دی ،یا هغه مال چې په امانت پروت وي له کوم مسلمان یا ذمي سره ، نه خپل لوی زوی لره ،او خپلې ښځې او د هغې حمل لره ،او خپلې ځمکې او جنګ کونکی غلام لره .

تشریح:(۱۳)په کافرانو کې چې څوک په دارالحرب کې ایمان راوړي نو هغه د خپل اسلام په وجه سره خپل ځان محفوظ کړ ځکه چې له اسلام سره له پیله مملوک والی ممکن نه دی،او ده خپل نابالغ اولاد هم محفوظ کړ ولې چې هغوئ د خپل پلار د اسلام له کبله د هغه په تبع سره مسلمان دي ، لهذا نه د دوئ قتل کول جائز دی، او نه غلام جوړول جائز دی.

(۱۴) او ده خپل هر هغه مال هم محفوظ کړ چې د ده په قبضه کې دی،ولې چې د مجاهدینو له قبضې څخه د ده قبضه وړاندې ده ،همداشان ده خپل هغه مال هم محفوظ کړ کوم چې ده له کوم مسلمان یا ذمی سره امانت ایښی وي ولې چې حکماً دا مال په خپله د مالک په قبضه کې شمارل کیږي په دې وجه چې د مودَع قبضه د مالک قبضه شمارل کیږي ولې چې مودَع د مالک لپاره د مال حفاظت کوي .

(۱۵) كه مسلمانان پر دارالحرب باندي غالب شو نودهغه شخص (چې په دارالحرب كې ايمان راوړی دی)بالغ اولادونه محفوظ نه دي،بلكه مال غنيمت دي،ولی چې بالغين حربی كافران دي دپلار تابع نه دي لهذادپلارپه تبع سره مسلمان نه شمارل كيږي . هم داشان ددي نوي مسلمان ښځه هم غنيمت گرځي ،ولی چې هغه حربيه كافره ده،اوپه اسلام كې دخاوند تابع نه ده،اوهمداشان ددي ښځي حمل هم غنيمت گرځي ولی چې دا حمل لاترا وسه ددي ښځي جز ،دی،نوپه رقيت كې دمور تابع دی.

(۱۶)قوله وعقاره وعبده المقاتل ای دون عقاره وعبده المقاتل ،يعني همداشان ددي نوی مسلمان غيرمنقوله مال هم محفوظ نه دی بلكه ټول مال فئ گرځي ولی چې داهم فی الجمله په دارالحرب كې دكيدلوپه وجه سره ددارالحرب والاوودبادشاه په قبضه كې دي نوحقيقة دادمالک په قبضه كې نه دي په دي وجه دامال فئ گرځي .همداشان دده داسې غلام هم غنيمت دی كوم چې دمسلمانانوپه خلاف جنگيږي ولی چې داغلام دخپلې سركشئ په وجه سره اوس دخپل مولی له لاسه په وتلوسره ددارالحرب دخلگوتابع شوی دی لهذادخپل مولی په تبع سره محفوظ نه دی ،البته كه هغه غيرمقاتل وي نودمولی دی .

فصل

دافصل دغنيمت دتقسيمولوپه بيان كې دی

دكثرت تفريعاتوپه وجه سره يې كيفيت تقسيم په مستقل فصل كې بيان كړی دی .

(۱)لِلرَّاجِلِ سَهْمٌ وَلِلْفَارِسِ سَهْمَانِ(۲)وَلَوْ لَهُ فَرَسَانِ(۳)وَالْبَرَاذِينُ كَالْعَتَاقِ(۳)لَا الرَّاحِلَةُ وَالْبَغْلُ(۵)وَالْعِبْرَةُ لِلْفَارِسِ وَالرَّاجِلِ عِنْدَ(٦) وَلِلْمَمْلُوكِ وَالْمَرْأَةِ وَالصَّبِيِّ وَالذِّمِّيِّ الرَّضْخُ لَا السَّهْمُ

ترجمة:دپياده لپاره يوه حصه ده اودسپاره لپاره دوې حصې دي ،كه څه هم له ده سره دوه اسونه وي ، اوتركي آس دعربي آس په شان دی،نه اوښ اوكچر، دسپاره اوپياده كيدلو اعتبارله دارالاسلام څخه دوتلو وخت دی،اودغلام اودښځي اودكوچني اوذمی لپاره لږ عطيه ده نه حصه ،

تشريح:(۱)دمال غنيمت دارالاسلام ته له راوړلو وروسته دي امام په دي ډول تقسيم كړي،چې اول دي له ټول مال څخه خمس وباسي ، اوله ځان سره دي محفوظ كړي،(پردرو فرقوبې تقسيم كړي چې دهغوئ ذكر ورسته راځي)باقي څلور حصې به پرمجاهدينوتقسيم كړي،بيادامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپه مجاهدينو كې دشهسوار(آس والا)لپاره دوه حصي دي اودپياده يوه حصه ده،ولی چې د ابوداود شريف حديث دی چې نبی ﷺ فارس ته دوي حصې اوپياده ته يوه حصه وركړي وه ،اوهمداشان دامعلومول چې چا ډيركار كړی دی اوچاكم كړی دی متعذر دی ،نودزيادت حكم به پرظاهري سبب دائروي،اوپه شهسوار كې دوه سببه ظاهردي يودده ذات اوبل دده آس ،اوپه پياده كې صرف يوسبب دی چې هغه دده ذات دی،لهذا دسپاره پرپياده استحقاق دو چنده دی، اودصاحبينو رحمهما الله په نزد دشهسوار لپاره درې حصې دي اودپياده لپاره يوه حصه ده ، ولی چې له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی ،چې نبی ﷺ فارس ته درې حصې وركړې اوپياده

ته يوه حصه،صاحبينو ته ځواب ورکول شوی دی چې په حديث شريف کې د فارس له دروحصو څخه يوه حصه پرتنفيل(انعام)باندي محموله ده ،يعنی فارس ته دريمه حصه دانعام په ډول سره ورکړل شوی.

ف: دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجع دی،لمافي الشامية: (قوله استحق سهمين) سهم لنفسه وسهم لفرسه وهذا عنده، وعندهما ثلاثة اسهم له سهم ولفرسه سهمان لانه ﷺ فعل ذالک على مارواه البخارى وغيره ،وحمله ابو حنيفه على التنفيل توفيقا بين الروايات، ملتقى وشرحه ،واذاكان حديث في البخارى وحديث آخر في غيره رجاله رجال الصحيح او روى عنهم البخارى كان الحديثان متساويين والقول بان الاول اصح تحكم لانقول به مع ان الجمع وان كان احدهما اقوى اولى من ابطال الأخر وتمامه في الفتح (ردالمحتار: ٣/٢٥٦)

(٢) يعني دفارس لپاره دوې حصې دي که څه هم له ده سره دوه آسونه وي، ولی چې په يو وخت کې جنګ صرف پريوه آس باندې کيږي نه پر دو يا زيات تر دوباندي،لهذا حصه به هم صرف ديوه آس ورکوله کيږي نه ده زياتو.

(٣) بيا په آسونو کې براذين (دبرذون جمع ده ترکي آس ته ويل کيږي) اوعتاق (دعتيق جمع ده عربي آس ته ويل کيږي) برابر دي، ولی چې دلفظ خيل اطلاق پرټولو برا بر کيږي،اوپه قرآن شريف کې خيل ذکر دی،وهوقوله تعالى﴿وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ﴾(يعني برابره وئ آسونه چې په هغه باندي دالله تعالی دښمنان اوخپل دښمنان بيروی).

(۴)قوله لاالراحلة والبغل اى لايسهم للراحلة والبغل .يعنی په مال غنيمت کې بار وړونکو څارويو (مثلاله که اوښ اوخر وغيره)اوکچروته حصه نه ورکول کيږي، ولی چې دآسونو په شان پردوئ په سپرتيا جنګ نه کيږي.

(٥) ديوچادسپوروالی ياپياده والی لپاره ددارالحرب ترسرحداوښتل معتبردی،مثلا که کوم شخص دارالحرب ته له آس سره داخل شو بيايې آس مرشو نو هغه دسپاره دحصې مستحق دی،يعني هغه ته به دوي حصې ورکول کيږي،اوکه کوم شخص دارالحرب ته پياده داخل شو بيايې هلته آس واخيستی، نوديپاده دحصې مستحق دی،يعني هغه ته به يوه حصه ورکول کيږي،ولی چې دارالحرب ته اوښتل جنګ دی،په دي وجه چې له دي څخه دښمن په خوف کې مبتلاء کيږي ،له دې څخه وروسته خو ددوام حالت دی دکوم چې اعتبارنشته،لهذا له له سرحد څخه داوښتلو اعتباربه کيږي ،په دي وخت کې چې دچا آس وي هغه سپور بلل کيږي اوکه دچا نه وي هغه پياده دی.

(٦) دغلام ،ښځي ،کوچني اوذمي لپاره صرف لږ عطيه ده،يعني څومره چې امام مناسب وبولي هغومره دي ورکړي، ليکن له ذمي ماسوا دانورو ته چې کومه عطيه ورکوي هغه به دمجاهدله حصې سره برابره نه وي،اوذمي که څه ډيرکار وکړ نو دمجاهد تر حصې زيات اجرت ورکول صحيح دی، دغنيمت په مال کې به دوئ ته حصه نه ورکوي،ولی چې نبي ﷺ به دښځواوکوچنيانو اوغلامانو لپاره حصه نه معلومولـه،اوذمی ته به په دي وجه حصه نه ورکوي چې نبي ﷺ له يهود.انو څخه ديهودانو پرخلاف مرسته غوښتي وه مګرپه مال غنيمت کې يې دوئ ته حصه نه وه ورکړي.

(٧) والْخُمُسُ لِلْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَقُدِّمَ ذَوُو الْقُرْبَى الْفُقَرَاءُ منهم عليهم (٨) وَلَا حَقَّ لِأَغْنِيَائِهِمْ (٩) وَذِكْرُهُ تَعَالَى لِلتَّبَرُّكِ (١٠) وَسَهْمُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم سَقَطَ بِمَوْتِهِ كَالصَّفِيِّ

ترجمة: او خمس د يتيمانو او مسكينانو او مسافرو لپاره دى، او مخته كيږي په دوئ كې ذى القربى پر دوئ باندې، او هيڅ حق نشته د دوئ د غنيانو لپاره، او د الله تعالى ذكر د تبرك لپاره دى، او د نبى ﷺ حصه له وفات وروسته ختمه شوه لكه صفى.

تشريح: (۷) د مال غنيمت هغه پنځمه حصه كومه چې امام جلا محفوظه كړي وه، هغه به پر درو حصو تقسيم كړي، يوه حصه د يتيمانو لپاره، او دوهمه حصه د مسكينانو لپاره، او دريمه حصه د داسې مسافرو لپاره كوم چې له خپلو مالونو څخه منقطع (ليرى) وي، لقوله تعالى (وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى واليتامى والمساكين وابن السبيل) په دې درو ډلو كې فقيران ذى القربى (بنى هاشم) هم داخل دي، ليكن دوئ به پر دې نورو وړاندې كيږي، يعني د دوئ يتيم به د دې نورو پر يتيم او د دوئ فقير به د دې نورو پر فقير مقدم كيږي، ولى چې دوئ ته صدقه وركول جائز نه دي، ولان الله تعالى قدم ذكرهم فقال (ولذى القربى واليتامى الخ).

(۸) د ذوى القربى (بنى هاشم) غنيانو ته به په خمس كې هيڅ حصه نه وركول كيږي، ولى چې په خمس كې چې څوك حقدار جوړيږي هغه د فقر يا د حاجت په سبب دى، په دې وجه په ايت مباركه كې چې كوم ذوى القربى ذكر دي له هغوئ څخه د بنى هاشمو فقيران مراد دي، كوم چې په نورو فقيرانو كې شامل دي، د نبى ﷺ قريبان (بنى هاشم) د نبى ﷺ په زمانه كې د ده د نصرت په وجه سره د خپلې حصې حقدار وو، او د نبى ﷺ تر وفات وروسته د فقر په سبب حقدار دي نه د نصرت په سبب، لانقطاع النصرة.

(۹) الله تعالى چې په دې ايت كريمه (وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ) كې د خمس كومه حصه د ځان لپاره ذكر كړې ده هغه صرف د كلام په شروع كې د الله تعالى په نامه سره د تبرك حاصلولو لپاره مذكوره ده له دې څخه واقعي د الله تعالى حصه مراد نه ده.

(۱۰) او په ايت مباركه كې چې د نبى ﷺ كومه حصه ذكر شوې ده هغه د نبى ﷺ د وفات په وجه سره ساقطه شوې ده، ولى چې اوس هغه ﷺ خپلې حصې ته هيڅ ضرورت نلري، لكه څرنګه چې صفى (صفى هغه شئ دى كوم چې به نبى ﷺ له غنيمت څخه د ځان لپاره خوښه وى لكه زغره يا توره يا مينځه وغيره) ساقطه شوې ده.

(۱۱) وَإِنْ دَخَلَ جَمْعٌ ذُو مَنَعَةٍ دَارَهُمْ بِلَا إِذْنٍ خُمِّسَ مَا أَخَذُوا وَإِلَّا لَا (۱۲) وَلِلْإِمَامِ أَنْ يُنَفِّلَ بِقَوْلِهِ مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ (۱۳) وَبِقَوْلِهِ لِلسَّرِيَّةِ جَعَلْتُ لَكُمُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ (۱۴) وَيُنَفِّلُ بَعْدَ الْإِحْرَازِ مِنَ الْخُمُسِ فَقَطْ وَالسَّلَبُ لِلْكُلِّ إِنْ لَمْ يُنَفِّلْ (۱۵) وَهُوَ مَرْكَبُهُ وَثِيَابُهُ وَسِلَاحُهُ وَمَا مَعَهُ

ترجمة: او كه داخل شو يو جماعت طاقتور دار الحرب ته بلا اجازت نو خمس به اخيستل كيږي له هغه مال څخه كوم چې دوئ راوړي، او كه نه وو نو نه، او امام ته جائز دى چې زيات وركړي په دې وينا سره چې څوك كوم يو قتل كړي نو د هغه سامان به هغه ته وركول كيږي، يا كوم لښكر ته وواي چې ما مقرر كړې ستاسې لپاره له خمس څخه وروسته ربع، او يا ته حصه به وركوي له جمع كولو څخه وروسته صرف له خمس څخه او سامان به د ټولو لپاره وي د ډلګۍ والو څخه كه يې د زيادت وعده نه وه كړې، او سلب د مقتول سورلى او جامې او اسلحه او هغه مال دى كوم چې له ده سره وي.

تشريح: (۱۱) كه د مسلمانانو د امام له اجازې بغير د مسلمانانو كوم داسې جماعت دار الحرب ته داخل شو چې هغه لره قوت او منعت حاصل وو او هغوئ له هغه ځاى څخه يو شئ راوړى راغلل نو له هغه څخه به خمس

اخيستل كيږي،ولې چې دا غنيمت دی ،په دي وجه چې دوئ هغه على وجه الغلبه وړی دی، اوكه له مسلمانانو څخه يو يادوه دامام له اجازي بغير دلوټولوپه نيت دارالحرب ته داخل شول اوله هغه ځای څخه يې يوشئ راوړی نوله هغه څخه به خمس نه اخيستل كيږي، ولې چې دوئ بې له شكه مال مباح راوړی دی ،مگرعلى وجه الغنيمة (په دي ډول چې پردښمن په غالبه كيدلوسره يې وړی وي)نه ده وړی بلكه په غلاكولوسره يې وړی دی.

(۱۲) كه دجنګ پروخت باندي امام يوچاته څه انعام وركړي يادانعام وعده وكړي دمجاهدينو دزړه دلوړه ولولپاره مثلاداسي ووايي،من قتل قتيلا فله سلبه.(يعني كوم كس چې كوم كافرقتل كړي نودهغه مقتول سامان به هغه ته وركول كيږي)نوپه دې كې څه حرج نشته بلكه مستحب دی، همداشان كه كومي ډلګۍ(كوچنی لښكر) ته داسي ووايي چې د خمس له جلاكولو وروسته دغنيمت څلورمه برخه خاص ستاسي لپاره انعام ،نوداهم مستحب دی،ولې چې انعام وركول د مجاهدينو جهادته داماده(تيارولو)كولو يوه طريقه ده،وقدقال الله تعالى ﴿حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ﴾(يعنی مومنان پر جهاد باندي اماده كړه) خمس جلاكول كوم شرط نه دی ولې چې ټول مال غنيمت پرطريقه دانعام مجاهدينوته وركول جائزدی.

(۱۳) البته مال غنيمت دارالاسلام ته له راوړلو اومحفوظ كولو وروسته امام صرف له خمس څخه يوچاته انعام مقرركولی شي،ولې چې په دارالاسلام كې په محفوظ كولوسره له باقي څلورو اخماسوسره اوس دغانمينوحق متعلق شوی دی البته په خمس كې دغانمينوهيڅ حق نشته په خمس كې دامام رأيه چليږي لهذا انعام هم له خمس څخه وركولی شي.

(۱۴)كه امام دمقتول كافر داسبابو وعده له قاتل سره نه وه كړې نودهغه سامان هم دغنيمت له جملې څخه دی ، په هغه كې قاتل اوغيرقاتل ټول سره برابردي ،لقوله ﷺ لحبيب بن ابی سلمة رضي الله عنه ﴿ليس لک من سلب قتيلک الاماطابت به نفس امامک﴾(تاته دخپل امام له خوښی بغير دخپل مقتول دسلب حق نشته) او همدارازداسامان دلښكرپه قوت باندي راوړل شوی دی نوله غنيمت څخه به شماروي.

(۱۵) اودمقتول له سلب څخه مراد دده دبدن جامې اودده سپرلۍ اودده سلاح ده ، همداشان دده دسپرلۍ زين اوغيره هم په سلب كې شامل دي.

باب استيلاء الكفار

داباب دكفارو دغلبې په بيان كې دی

دكفارو دغلبې دوه صورتونه دي ،كافران پرمسلمانانو باندي غالب شي،ياكافران پرنورو كافرانو غالب شي،په دې باب كې يې ددواړوتفصيل بيان كړی دی،كله چې مصنف رحمه الله دمسلمانانو پركافرانو دغالب كيدلو څخه فارغ شو، نودهغه عكس يې شروع كړ،ددې باب دتأخيروجه داده ، چې دكفارو په غالب كيدلو كې كراهة دی.

(۱) سَبي التُّرکُ الرُّومَ وَأَخَذُوا أَمْوَالَهُمْ مَلَكُوهَا (۲) وَمَلَكْنَا مَا نَجِدُهُ مِن ذٰلِكَ إِنْ غَلَبْنَا عَلَيْهِمْ (۳) وَإِنْ غَلَبُوا عَلَى أَمْوَالِنَا وَأَحْرَزُوهَا بِدَارِهِمْ مَلَكُوهَا (۴) وَإِنْ غَلَبْنَا عَلَيْهِمْ فَمَنْ وَجَدَ مِلْكَهُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ أَخَذَهُ مَجَّانًا (۵) وَبَعْدَهَا بِالْقِيمَةِ (۶) وَبِالثَّمَنِ لَوِ اشْتَرَاهُ التَّاجِرُ مِنْهُمْ (۷) وَإِنْ فَقَأَ عَيْنَهُ وَأَخَذَ أَرْشَهُ

ترجمة : بندي کړل دترک والاوو روم والا او وایخیستل د هغوئ مالونه نو دوئ دهغوئ مالکان کیږي، او موږ مالکان ګرځو دهغه شئ چې ویې موندو له دې څخه که موږ غالب شو پر دوئ باندي ،او که دوئ غالب شول زموږ پر مالونو باندي او په دارالحرب کې یې محفوظ کړل نو دوئ دهغو مالکان ګرځي ،او که موږ غالب شو پر دوئ نو کوم څوک چې خپل شئ وموندي له تقسیم څخه وړاندي نو دی دي هغه بغیرله قیمته اخلي ،او له تقسیم څخه وروسته دي په قیمت باندي ،او په ثمن سره که کوم تاجرله دوئ څخه اخیستي وي ،که څه هم دهغه سترګې ایستل شوي وي او دهغې تاوان اخیستل شوی وي.

تشریح:(۱)کله چې دترکان (مراد دترک کافرآن دي)مثلا پر رومیانو(مراددروم کافراندي)اندي غالب شي(یعني د یو کفري ملک خلک دبل کفري ملک پر خلګو باندي غالب شي)اوهغوئ بندیان کړي اومالونه تري واخلي نودترک والا ددي مالونومالکان ګرځي،ولی چې داهل حرب مالونه مباح دي،اوپرمباح مالونو باندي په قبضه کولو سره قابض مالک ګرځي ،مصنف صاحب ﷫ ترکانوته دخپلې زمانې په اعتبار کافران ویلي دي ،چې په هغه زمانه کې دوئ حربی کافران وو.

(۲) بیاکه موږ پرترکانو (یعني پرغالب کافرانو) باندي غالب شو نو ددوئ هغه مالونه کوم چې دوئ له رومیانو (مغلوب کافرانو) څخه اخیستي دي که موږ هغه وموندل نو هغه زموږ لپاره حلال دي ،ولی چې دا مالونه هم دترکانو له نورو مالونو سره ملحق شول ،بس ددوئ دنورو مالونو په شان داهم موږته حلال ګرځي.

(۳)او که کله کافران معاذالله زموږ پر مالونو باندي غالب شول او هغه یې لوټ کړل او دارالحرب ته یې یووړل نو دوئ یې مالکان ګرځي ،ولی چې دمالونوعصمت دشریعت له احکامو څخه یو حکم دی،او کافران په دي احکامو مخاطب نه دي، لهذا دا مالونه ددوئ په حق کې غیرمعصوم دي ، نو په دي وجه یې دوئ مالکان کیږي.

(۴) بیاکه مسلمانان پر هغو کافرانو باندي غالب شول او پر هغه مالونو باندي یې قبضه وکړه کوم چې هغوئ له مسلمانانو څخه وړي وو ،نوکه دمال غنیمت له تقسیمدلو څخه وړاندي اصل مالکانو خپل دامالونه وموندل نو دوئ دخپل دمالونه بغیرله کوم عوض څخه واخلي ولی چې نبی کریم ﷺ حضرت ابن عباس ﷛ ته وفرمایل ،که تاله تقسیم څخه وړاندي وموندل نو هغه بلاعوض ستادي او که دي له تقسیم څخه وروسته وموندل نو بیاپه قیمت سره ستادي ،همدراز دمسلمان مالک قدیم ملک دده بغیرددده له خوښې زائل شوي وو نو دهغه په لحاظ ولو سره دده ته داخیستلو حق دی

(۵)قوله وبعدها بالقیمة ای یاخذ بعد القسمة بالقیمة ان شاء ،یعني که دمال غنیمت له تقسیم څخه ورسته مسلمانانو خپل مال له یو مجاهد سره وموندی نو اوس اصلی مالک ته په قیمت باندي دخپل مال داخیستلو اختیار شته او بلاقیمت نشته،لماروینا ،همداشان له تقسیمیدلو څخه وروسته چې له کوم

مجاهد سره پيداشي له هغه څخه په مفت اخيستلو کې هغه ته ضرر دی، البته په قيمت سره په اخيستلو کې ددواړو طرفونو رعايت دی، په دي وجه اصل مالک ته دا اختيار ورکړل شوی دی .

(۶) قوله وبثمن لو اشتراه تاجر منهم ای ياخذه بالثمن لو اشتراه تاجر منهم ،يعني که کوم تاجر دارالحرب ته ولاړی او دمسلمانانو دغه مالونه يې په قيمت سره واخيستل او دارالاسلام ته يې راوړل ، نولومړنيو مالکانو لره اختيار دی که يې خوښه وي نو تاجر ته دي هغو مالونو قيمت ورکړي او وادي خلي په کوم قيمت چې تاجر له کافرانو څخه اخيستي دي ،اوکه يې خوښه وي پريدېږدي ،ولی چې په مفت اخيستلو کې د تاجر ضرر دی، په دي وجه چې هغه د دي مال په عوض کې قيمت ورکړی دی هغه مال، لکان اعدال النظر فيمالقلنا.

(۷) اوکه مذکورصورت په کوم غلام يابل شي کې وي،نوهم يې مالک په هغه قيمت اخيستلی شي، په کوم قيمت چې تاجر اخيستی دی،که څه هم دغلام سترګه يوچا ايستلې وي اوتاجر د هغې معاوضه هم اخيستی وي،ولی چې سترګه وصف دی اودوصف په مقابل کې ثمن نه وي، او د تاجر لپاره د هغې تاوان اخيستل صحيح دی ،ځکه تاجر دغلام مالک شوی دی،اوددہ داملک صحيح دی.

(۸) فَإِنْ تَكَرَّرَ الْأَسْرُ وَالشِّرَاءُ أَخَذَهُ الْأَوَّلُ مِنَ الثَّانِي بِثَمَنِهِ ثُمَّ الْقَدِيمُ بِالثَّمَنَيْنِ (۹) وَلَا يَمْلِكُونَ حُرَّنَا وَمُدَبَّرَنَا وَأُمَّ وَلَدِنَا وَمُكَاتَبَنَا وَنَمْلِكُ عَلَيْهِمْ جَمِيعَ ذَلِكَ (۱۰) وَإِنْ نَدَّ إِلَيْهِمْ جَمَلٌ فَأَخَذُوهُ مَلَكُوهُ (۱۱) وَإِنْ أَبَقَ إِلَيْهِمْ قِنٌّ لَا

ترجمة: اوکه مکرر شو قيد کيدل او رانيول نو وادي خلي اول مشتري له دوهم څخه په عوض د ثمنو بيا دي اول مالک دواړه ثمنه ورکړي او وادي خلي ،اوکافر مالک نه ګرځي زموږ د ازاد اود مدبر اود ام ولد اوموږ دمکاتبينو ،اوموږ مالکان ګرځو ددوئ ددي ټولو ،اوکه وتښتيدی کوم اوښ ددوئ طرف ته او دوئ هغه ونيوی نو دوئ د هغه مالکان ګرځي ،اوکه وتښتيدی غلام دوئ ته نونه (يعنی مالکان يې نه ګرځي).

تشريح:(۸) که دغلام قيد کيدل اودتاجر اخيستل دوه ځله وشو ل مثلاً دمسلمانانو کوم غلام دښمن قيد کړی اووړی وو بيا په هغه ځای کې کوم مسلمان تاجراخيستی وواودارالاسلام ته يې راوستی بيادوهم ځل دښمن هغه په قيد کولو سره دارالحرب ته ويوړی اوس دوهم ځل کوم بل تاجرهغه واخيستی نوپه دي صورت کې دهغه غلام بندي کيدل او اخيستل مکرر دي نو ده لره اول ځل اخيستونکی دوهم ځل اخيستونکی ته په قيمت ورکولو سره اخيستی شې اوله دي څخه وروسته اصل مالک ددواړو قيمتونو په ورکولو سره له دي اول تاجر څخه اخيستی شې ولی چې اولنی تاجرددي غلام دوه ځله قيمت ورکړی دی .

(۹) اوکه کفار پرموږ غالب شول (اعاذناالله) نو دوئ زموږ د ازاد اومدبر اوام ولد اومکاتب دناړينه اوښځو مالکان نه شې کيدلای ،ولی چې مدبر اوام ولده اومکاتب من وجه ازاد دي اوحر من کل الوجوه ازاد دی،اوازاد خومعصوم بنفسه وي،اودمعصوم اومحفوظ دوئ نه شي مالکان کيدلای، اوکه موږ پردوئ باندي غالب شو نوموږ ددوئ دمدبر وغيره دټولو مالکان ګرځو ولی چې ددوئ دکفرپه وجه سره شريعت ددوئ عصمت ساقط کړی دی،فنملک عليهم .

(۱۰) که زموږ اوښ یا یوبل څیوان وځغستل دارالحرب ته ولاړ ی اوکافرانو ونیوی نودوئ دهغه مالکان ګرځي،ځکه دارالحرب ته دتللوپه وجه سره دمالک له قبضې څخه ووتی، اوحیوان پرخپل ځان اختیار نه لري لهذا معصوم هم نه دی، بس نو دمال مباح کیدلو له کبله دوئ دهغه مالکان ګرځي .

(۱۱) اوکه دکوم مسلمان غلام وتښتیدی او دارالحرب ته ولاړ اوکافرانوهغه ونیوی نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد کافر دهغه مالک نه ګرځي ،ولی چې دارالحرب ته په تللوسره دمولی قبضه له ده څخه زائله شوه نودده ذاتي اختیار پر خپل ځان ظاهر شو ،نودی دمعصوم بنفسه کیدو په وجه سره دملک محل پاتې نه شو ،په دي وجه هغوئ دده مالک نه ګرځي،اودصاحبینو رحمهما الله په نزد کافر دده مالک ګرځي ،صاحبین رحمهما الله غلام پرنورو مالونو باندي قیاس وي.

ف: دامام ابوحنیفه قول راجح دی، لمافی الملتقی:لایملکون عبدا ابق الیهم فاخذه مالکه بعدالقسمة مجانا لکن یعوض عنه من بیت المال،قال العلامة الحصکفی:عن ابی حنیفة وهو الصحیح کمافی القهستانی عن المضمرات وعندهماهو کالمأسور فیملکونه بالاستیلاء، وقال الشیخ عبدالحکیم الشهید:والصحیح قول الامام ابی حنیفة صرح به القهستانی معزیا الی المضمرات (هامش الهدایه: ۲/۵۵۹)

(۲) وَلَوْ أَبَقَ بِفَرَسٍ وَمَتَاعٍ فَاشْتَرَى رَجُلٌ كُلَّهُ مِنْهُمْ أَخَذَ الْعَبْدَ مَجَّانًا وَغَيْرَهُ بِالثَّمَنِ (۱۳) وَإِنِ ابْتَاعَ مُسْتَأْمَنٌ عَبْدًا مُؤْمِنًا وَأَدْخَلَهُ دَارَهُمْ (۱۴) أَوْ أَمِنَ عَبْدٌ ثَمَّةَ فَجَاءَنَا أَوْ ظَهَرْنَا عَلَيْهِمْ عَتَقَ

ترجمة:اوکه غلام وتښتیدی له آس اوسامان سره ،بیا یو شخص دا ټول له دوئ څخه واخیستل ،نو وادې خلي غلام مفت اوله ده څخه علاوه په ثمن باندي ،اوکه واخیستی مستأمن کوم مؤمن غلام او دارالحرب ته یې ویوړی ،یا ایمان راووړ یو غلام هلته بیا موږ ته راغلی ،یاموږ غالب شو پردوئ باندي نوغلام ازادیږي

تشریح:(۱۲)که زموږ کوم غلام دارالحرب ته وتښتیدی اوله خپل ځان سره یې آس اوسامان هم یو ووړ هلته کافرانو دی له آس اوسامان سره قیدي کړ بیا کوم شخص داغلام له اسبابو سره له دوئ څخه رانیوی اودارالاسلام ته یې راوړل، نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد دغلام مخکني مالک ته اختیار دی چې غلام مفت واخلي اودآس ودسامان قیمت دي ورکړي وادې خلي ،اودصاحبینو رحمهما الله په نزد غلام له ټولو اسبابو سره په قیمت اخیستلای شي ، حالت داجتماع پرحالت انفراد قیاس وي ،ولی چې له غلام او اسبابو څخه دهریوه جلا جلا دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد همدا حکم دی چې اصلي مالک غلام بې قیمته اوسامان په قیمت باندي اخیستلای شي ،نو دحالت اجتماع به هم همدا حکم وي .

(۱۳) که کوم حربي کافر په امن اخیستلو سره دارالاسلام ته راغی دلته یې یو مسلمان غلام رانیوی دارالحرب یې یووړ ی نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد دارالحرب ته په داخلیدو سره هغه ازادیږي، اودصاحبینو په نزد نه ازادیږي، ځکه چې دمومن غلام دکافرله ملک څخه دایستلو لپاره په دارالاسلام کې صرف یو صورت وو یعني هغه دده پرخرڅولو مجبوره کول،مګر دارالحرب ته دتللو له کبله دمسلمانانو دامام پرهغه باندي ولایت جبر ختم شو ،لهذا دده مخکنی ملک به برقرار پاته کیږي.

دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې مسلمان دکافرله ذلت څخه خلاسول واجب دی،نو دده دخلاسولو لپاره به تباین دارین دعلت دعتق یعني اعتاق قائم مقام بلل کیږي ،لکه څرنګه چې په دارالحرب

کې دزوجینو څخه دیوه دمسلمان کیدو ورسته درې حیضه دطلاق قائم مقام ګرځول کیږي، ترڅو مسلمانه ښځه یامسلمان سړی دکافرله ذلت څخه خلاس شي.

ف: دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی، لماقال المفتي غلام قادر النعماني: القول الراجح هو قول الامام (القول الراجح: ۱/۳۸۹)

(۱۴) که دکوم حربي کافر غلام په دارالحرب کې مسلمان شو بیامورته راغی، یاهلته په دارالحرب کې وو چې مسلمانان پر دارالحرب باندې غالب شول نو داغلام ازاد دی، ځکه له ابن عباس څخه روایت دی چې داهل طائف څخه څو غلامان راووتلې او دنبي کریم ﷺ لښکرته راغلي وو نو نبي ﷺ دهغوئ دازادی حکم یې ورکړی وو، اووې فرمایل چې دوئ دالله تعالی ازادکړل شوي دي.

بَابُ الْمُسْتَأْمَنِ

داباب دمستامن په بیان کې دی

مستامن له استیمان څخه دی په معنی سره دامن غوښتلو دی، اوپه اصطلاح کې کوم کافرچې دارالاسلام ته دسفر دخصوصي اجازت په حاصلولو سره راشي، یامسلمان دارالحرب ته دداخلیدلو اجازت حاصل کړي اوولاړشي، ده ته مستامن ویل کیږي، استیمان یې له استیلاء څخه په دې وجه ورسته ذکر کړ چې استیلاء له غلبې څخه کیږي، اواستیمان له غلبې څخه ورسته وي.

(۱) دخل تَاجِرُنَا ثَمَّةَ حَرُمَ تَعَرُّضُهُ لِشَيْءٍ مِنهم (۲) فَلَوْ أَخْرَجَ شَيْئًا مَلَكَهُ مِلْكًا مَحْظُورًا فَيَتَصَدَّقُ بِهِ (۳) فَإِنْ أَدَانَهُ حَرْبِيٌّ أَوْ أَدَانَ حَرْبِيًّا أَوْ غَصَبَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ وَخَرَجَا إِلَيْنَا لَمْ يُقْضَ بِشَيْءٍ (۴) وَكَذَلِكَ لَوْ كَانَا حَرْبِيَّيْنِ وَفَعَلَا ذَلِكَ ثُمَّ اسْتَأْمَنَا (۵) وَإِنْ خَرَجَا مُسْلِمَيْنِ قُضِيَ بِالدَّيْنِ بَيْنَهُمَا لَا بِالْغَصْبِ

ترجمه: داخل شوزموږ تاجر دارالحرب ته نوحرام دی ده لره تعرض کول ددوئ یو شئ ته، بیاکه یې راوړي هغه یو شئ نو دهغه مالک ګرځي په ملک ممنوع سره نو هغه دې صدقه کړي، اوکه قرض ورکړ ده ته یو حربي کافر یاده قرض ورکړ حربي ته یایې کوم شئ غصب کړ دوئ یو له بل څخه بیادواړه موږته راغلل نو قاضي به هیڅ فیصله نه کوي، همدا شان که دوو حربیانو کافرانو دغه کار وکړ بیایې امن واخیست دلې راغلل، اوکه هغه دوه (حربیان) راغلل په داسې حال کې چې مسلمانان شوي وو نو فیصله به کیږي ددوئ په منځ کې دقرض نه دغصب.

تشریح: که کوم مسلمان دتجارت کولو لپاره دارالحرب ته داخل شو نودده لپاره هلته ددوئ یوشئ ته تعرض کول اوراوړل حرام دی، ولې چې ده په دارالحرب کې دداخلیدلو لپاره له دوئ څخه په امن اخیستلو سره داعهداوپیمان وکړچې دوئ ته به هیڅ قسم ضررنه رسوي، اوس دده دهغوئ یو شي ته تعرض کول غدر دی، اوغدر کول حرام دی، په حدیث شریف کې دغدر مذمت (بدوالی) راغلی دی.

(۲) بیا که ده له هغوئ سره غدر وکړ، ددوئ مال یې راواخیست دارالاسلام ته یې راووړ نوداشخص دهغه مال مالک ګرځي، ځکه ددوئ مالونه مباح دي، اوپرمال مباح باندې چې دکوم څوک

قبضه وکړي هغه یې مالک ګرځي، مګردده دغه ملک خبیث دی،ځکه چې په غدریې حاصل کړی دی، لهذا ده ته به حکم ورکول کیږي چې دامال صدقه کړي اوپه خپله دې نه مصرفه وي.

(۳) که کوم حربي کافر پردغه تاجر باندي یوشی په پور خرڅ کړي ،یاده پرحربي باندي په پور خرڅ کړ،یاپه دوئ کې یوه له بل څخه یوشی غصب کړ،بیا دوئ دواړه دارالاسلام ته راغلل ،او زموږ له قاضي څخه یې فیصله وغوښته،نوزموږ قاضي به ددوئ په منځ کې هیڅ فیصله نه کوي، دپورپه صورت کې به په دي وجه فیصله نه کوي چې دقاضي حکم په هغه وخت کې نافذ دی کله چې قاضي ته ولایت حاصل شي ،حالاداچې دپور ورکولو پروخت په دارالحرب کې د اوسیدلو له کبله زموږقاضي ته ولایت حاصل نه و ،خاص بیا پرحربي باندي،نو اوس هم قاضي ته ولایت حاصل نه دی ،ځکه چې حربي مستامن دخپلوتیر شوو افعالو په باره کې پرخپل ځان داسلام داحکامو التزام نه دی کړی،باقي دغصب په صورت کې به زموږ قاضي په دي وجه فیصله نه کوي چې په دارالحرب کې کیدلو له کبله مال معصوم نه دی،لهذا غاصب دمال مالک شوی دی ، البته که غاصب مسلمان وو نوده ته به دمغصوبه شئ حربي ته دورکولو امرکیږي ولی چې ده په غدرکولوسره ګناه کړې ده .

(۴) همداشان که دو حربیانو په خپل منځ کې داسې معامله وکړه، یعني یوحربي پربل حربي باندي یوشی په پور خرڅ کړ،بیادوا ړو امن واخیست دارالاسلام ته راغلل اوموږ له قاضي څخه یې فیصله وغوښته نوزموږ قاضي به ددوئ په منځ کې هیڅ فیصله نه کوي.

(۵) اوکه دا حربیان دواړه مسلمانان شول بیادارالاسلام ته راغلل ، نوزموږ قاضي به ددوئ په مابین کې دقرض دمسئلې فیصله کوي،ځکه چې هلته ددوئ دقرضو معامله د دواړو درضامندي په وجه صحیح شوې وه،اودفیصلې پروخت قاضي لره پر دوئ باندي ولایت هم حاصل دی ،ولی چې په مسلمانیدلوسره دوئ پرځان باندي داسلام داحکامو التزام وکړ،البته دغصب په صورت کې به زموږ قاضي ددوئ په منځ کې فیصله نه کوي ،ځکه چېنه دارالحرب کې چې یوحربي دبل حربي مال غصب کړي نوهغه یې مالک ګرځي، ولی چې پرمال مباح باندي دقبضه کولو په وجه سره قابض مالک ګرځي ، اودحربي دغصب له کبله مالک کیدل صحیح دي ،اوپه هغه کې هیڅ خبث نشته چې دیرته ورکولو حکم ورته وشي ،په خلاف دمسلمان ځکه هغه ته به امر کیږي چې مال مغصوب بیرته حربي ته ورکړي، ولی چې ده په غدرکولوسره ګناه کړې ده .

(۱) مُسْلِمَانِ مُسْتَأْمَنَانِ قَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ تَجِبُ الدِّيَةُ فِي مَالِهِ (۷) وَالْكَفَّارَةُ فِي الْخَطَإِ (۸) وَلَاشَيْءَ فِي الْأَسِيرَيْنِ سِوَى الْكَفَّارَةِ فِي الْخَطَإِ (۹) كَقَتْلِ مُسْلِمٍ مُسْلِمًا أَسْلَمَ ثَمَّةَ

ترجمة: له دو مسلمانو مستأمنینو څخه یوه هغه بل قتل کړ نوواجبیږي دیت دده په مال کې ،اوکفارة واجبیږي دخطاء په صورت کې ، اوهیڅ شی نشته په دوقیدیانوکي له نیږ څخه علاوه دقتل خطاء په صورت کې ،لکه څرنګه چې دمسلمان مسلمان لره قتل کول کوموچې هلته اسلام راوړی وي.

تشریح:که دومسلمانانو امن واخیست اودارالحرب ته داخل شول بیاهلته په دوئ کې یوه هغه بل په قصدیاپه خطاءسره قتل کړنودمقتول دیت دقاتل په مال کې واجبیږي،ولی چې مقتول ته چې په دارالاسلام

کې دځان کوم حفاظت حاصل وو هغه دارالحرب ته په عارضي ډول په تللو سره نه ساقطیږي، لهذا دده دقتل په بدله کې دیت واجبیږي ،هو قصاص نه واجبیږي ،ځکه چې قصاص هلته واجبیږي په کوم ځای کې چې دمسلمانانو امام ته تصرف حاصل وي،ځکه چې قصاص اخیستل بې له تصرف څخه ممکن نه دی ، حال دا چې په دارالحرب کې امام ته تصرف حاصل نه دی.

(۷)قوله والکفارة فی الخطاء ای وتجب الکفارة فی قتل الخطاء ، یعني که په مذکوره صورت کې قاتل خپل ملګری په خطاء قتل کړی وو ،نوپرقاتل باندي کفاره هم لازمه ده ،ځکه ارشادباري تعالی دی (وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ الخ) (یعنی چاچې یو مؤمن په خطاء سره قتل کړ نوپرهغه (قاتل)دیو مسلمان غلام ازادول واجب دي) مطلق دی په دارالاسلام پوري خاص نه ده لهذا په دار الحرب کې هم دقتل خطاء په صورت کې کفاره لازمیږي .

(۸)که دوه مسلمانان په دارالحرب کې بندیان وو په دوئ کې یوه هغه بل قتل کړنو دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد پرقاتل هیڅ شئ واجب نه دی یعنی نه قصاص واجب دی نه دیت ،دصاحبینو په نزد که قتل خطاء وي.اوکه قتل عمدوي په دواړه صورتونو کې دیت واجب دی ولی چې دبندیه وجه سره دهغوئ عصمت نه ختمیږي لکه په امان اخستلو سره په تللوچې عصمت نه ختمیږي .دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې دقید له کبله مسلمان داهل الحرب تابع شو همداوجه ده چې دهغوی په اقامت سره دی هم مقیم کیږي اودهغوئ په سفرسره دی هم مسافر بلل کیږي لهذا دهغه عصمت نفس ختمیږي البته که قاتل خطاء قتل کړی وي نو پر قاتل کفاره واجبیږي ،ولی چې دپه هرحال دګناه کار کړی دی لهذا کفاره لازمه ده .

ف :دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی ،لان قوله قول المتون والشروح .وقال العلامه ابن نجیم :ولابی حنیفه ان بالاسر صارتبعا لهم لصیرورته مقصورافی ایدیهم ولهذا یصیر مقیمابا قامتهم (البحر الرائق:۵\۱۰۰)

(۹)دمسلمانانو بندیانو په دارالحرب کې یو دبل قتل کول داشان دي لکه په دارالحرب کې چې یو مسلمان بل داسې مسلمان قتل کړي چې هلته مسلمان شوی وي او دارالاسلام ته نه وي راغلی نود هغه پر قاتل باندي هم نه قصاص واجب دی نه دیت ولی چې داهم داهل الحرب تابع دی داراسلام ته په راتلو سره هغه عصمت نفس نه دی حاصل کړی هو دقتل خطاء په صورت کې پر قاتل کفاره واجب ده لماقلنا ،په دي صورت کې زموږ دائمه و اتفاق دي .

فصل

دافصل دمستامن دباقي احکامو په بیان کې دی

په دي فصل کې خاص دکافر مستامن داحکامو ذکر کړي دي .او دکافرمستامن داحکامو دمسلمان مستامن تراحکامو وروسته ذکرکولو وجه ظاهره ده .

(۱)لَا يُمَكَّنُ مُسْتَأْمَنٌ فِينَا سَنَةً وَقِيلَ لَهُ إنْ أَقَمْتَ سَنَةً وُضِعَ عَلَيْك الْجِزْيَةُ (۲)فَإِنْ مَكَثَ سَنَةً فَهُوَ ذِمِّيٌّ فَلَمْ يُتْرَكْ أَنْ يَرْجِعَ إلَيْهِمْ (۳)كَمَا لَوْ وَضَعَ عَلَيْهِ الْخَرَاجَ أَوْ نَكَحَتْ ذِمِّيًّا (۴)لَا عَكْسُهُ

ترجمه:اوسیدو ته به نه پرېښودل کیږي مستامن له موږسره یو کال،او ویل کیږي به ده ته چې که ټول کال پاتي شوي نو مقرر به کړای شي پر تا جزیه ،نو که دی پاتي شوله دي څخه وروسته پوره کال نو ذمی ګرځي نو نه

به پرېښودل کېږي چې دی ولاړشي دارالحرب ته ،لکه چې پرده مقررشي خراج یانکاح وکړي ښځه له ذمي سره، نه ددې عکس.

تشریح:(۱)که حربي کافرد امان په اخیستلوسره دارالاسلام ته داخل شي نو هغه دي په دارالاسلام کې یوکال یاله دي څخه زیات نه پرېښودل کېږي ولې چې چېرته دا کس دحربیانو معاون جوړنه شي چې دلته جاسوسي وکړي په کوم کې چې دمسلمانانو ضرر دي بلکه هغه ته دامان ورکولو پر وخت به امام هغه ته وایي چې که ته یوکال دلته اوسېږې نو زه په ته باندې جزیه مقرره وم .جزیه هغه مال دی چې له حربي څخه دهغه دوېنو په عوض کې اخستل کېږي.

(۲)بیاکه هغه یوکال یازیات تریوه کال په دارالاسلام کې پاتې شو نوهغه ذمي ګرځي او له هغه څخه به جزیه اخستل کېږي ولې چې دلته دکال داوسېدلو په وجه سره هغه په خپله عملاًددې التزام وکړ، اوس به هغه دارالحرب ته دتللو لپاره نه پرېښودل کېږي،ولې چې عقدذمه نه شي ماتیدلای په دې وجه چې په دې شان به جزیه ختمه شي او دهغه اولاد به دمسلمانانو په خلاف جنګیږي په کوم کې چې دمسلمانانو نقصان دی.

(۳)قوله کمالو وضع علیه الخراج ای کمالایترک ان یرجع الیهم لو وضع علیه الخراج .یعنی که مستامن ترکال زیات دلته پاتې شو نو داداسې ده لکه چې یو مستامن دلته په دارالاسلام کې ځمکه واخلي اود امام المسلیمن له طرف څخه په هغه باندې خراج مقرر کړل شي نو په دې صورت کې هم هغه دارالحرب ته د تللو لپاره نه پرېښودل کېږي ولې چې دځمکې خراج دسر دجزیه په شان دی ګواکې هغه دسرجزیه ورکول شروع کړه لهذا نو کله چې هغه خراج پر ځان لازم کړ نو ګواکې هغه په دارالاسلام کې داوسیدلو التزام وکړ په دې وجه به او س هغه نه پرېښودل کېږي لماقلنا ،او همداشان که یوې ښځې امان واخیست دار الاسلام ته راغله دلته په راتلوسره هغې له یو ذمي سره نکاح وکړه نو اوس به هغې ته هم دارالحرب ته دتللو اجازه نه ورکول کېږي ولې چې هغه دزوج په تابع کیدلوسره دلته داوسیدلو التزام وکړ لهذا او س به هغه دارالحرب ته دتللو لپاره نه پرېښودل کېږي.

(۴)لیکن که ددې عکس وشو یعنی که یو مستامن نارینه دلته راغی له یوې ذمیې ښځې سره یې نکاح وکړه نوهغه به دارالحرب ته له تلک څخه نه منع کېږي ولې چې هغه په نکاح کولوسره دلته داوسیدلو التزم نه دی کړی په دې وجه چې ده لره ممکنه ده چې دې ذمیې ښځې ته طلاق ورکړي اوله دې ځایه ولاړشي

(۵)فَإِنْ رَجَعَ إِلَيْهِمْ وَلَهُ وَدِيعَةٌ عِنْدَ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ أَوْ دَيْنٌ عَلَيْهِمَا حَلَّ دَمُهُ (۶)فَإِنْ أُسِرَ أَوْ ظُهِرَ عَلَيْهِمْ فَقُتِلَ سَقَطَ دَيْنُهُ وَصَارَتْ وَدِيعَتُهُ فَيْئًا (۷)وَإِنْ قُتِلَ وَلَمْ يُظْهَرْ عَلَيْهِمْ أَوْ مَاتَ فَقَرْضُهُ وَوَدِيعَتُهُ لِوَرَثَتِهِ

ترجمه :نوکه هغه ولاړی دکفاروطرف ته اوده امانت وو له کوم مسلمان [illegible] یادده قرض وو دهغوئ پرذمه نودده وینه حلاله ده ،بیاکه بندي کړای شویاپردوئ غلبه حاصله شوه اوسغه قتل کړای شونوساقطیږي دهغه قرض ،اودهغه امانت غنیمت ګرځي ،اوکه هغه قتل کړای شوحال داچې غلبه نه ده موندل شوي یاپه خپل مرګ سره مړشونودهغه قرض او امانت دهغه وارثانولره دي .

تشریح:(۵)که یو حربی کافر امان واخیست دارالاسلام ته راغی بیا بیرته دارالحرب ته ولاړی او په دارالاسلام کې له یو مسلمان یاذمی سره خپل کوم امانت پریښود یا یې خپل څه قرض دیو مسلمان یاذمی پرذمه پریښود نو اوس دبیرته تللو په وجه دهغه وینه مباح ګرځي ولی چې له دې ځایه دتللو په وجه سره دده امان ختم شو.

(۶)او دهغه چې کوم مال په دارالاسلام کې دی هغه مال ته تعرض کول(یعنی ورل)دهیچا لپاره حلال نه دي ولی چې دمال په حق کې دهغه امان نه دختم شوی البته هغه مال په خطرکې دی یعنی موقوف ده ولی چې فی الحال که څه هم په معصوم لاس کې دی لیکن که دی دمسلمانانو سره بندي شو یامسلمانان په دارالحرب غالب شول او هغه حربی یې قتل کړنو ددې ځای(یعنی په دارالاسلام) پر خلګو چې دهغه حربی کومې قرضې دي هغه ساقطیږي ولی چې د مقروض قبضه په نسبت دعامو مسلمانانو دقبضي په هغه مال باندې له وړاندې څخه ده نو په دې وجه به په هغه مال په ده پوري مختص وي نو قرض ساقطیږي.

(۷)او کوم امانت چې هغه له مسلمان یاذمی سره ایښی وو هغه اوس فئ (یعنی غنیمت)ګرځي ولی چې حکما دا مال په خپله دهغه په لاس کې وو په دې وجه چې دمودَع قبضه دمودِع د قبضي په شان ده او په قتل کولو یابندي کولو سره دهغه په قبضه کې موجود مال غنیمت ګرځي لهذا دا مال هم غنیمت ګرځي .

(۸)او که دا حربی صرف قتل کړای شو او مسلمانان په دارالحرب غالب نه شول نو دهغه چې کوم قرض یاامانت په دارالاسلام کې دی دهغه وارثانو ته به ورکول کیږي ،او همدا شان که هغه په خپله مړشو نو هم همدا حکم دی ولی چې کله دهغه ذات غنیمت نه شو نو دهغه مال به هم غنیمت نه وي ولی چې دارالاسلام ته دراتللو لپاره چې هغه کوم امان اخیستی وو هغه امان دهغه دمال په حق کې اوس هم باقی دی لهذا دهغه قرض او ودیعت دهغه دوارثانو دي ولی چې دهغه ورثه دهغه قائم مقام دي .

(۹) وَإِنْ جَاءَنَا حَرْبِيٌّ بِأَمَانٍ وَلَهُ زَوْجَةٌ ثَمَّةَ وَوَلَدٌ وَمَالٌ عِنْدَ مُسْلِمٍ وَذِمِّيٍّ وَحَرْبِيٍّ فَأَسْلَمَ هُنَا ثُمَّ ظُهِرَ عليهم فَالْكُلُّ فَيْءٌ (۱۰) وَإِنْ أَسْلَمَ ثَمَّةَ فَجَاءَنَا فَظُهِرَ عليهم فَوَلَدُهُ الصَّغِيرُ حُرٌّ مُسْلِمٌ وما أَوْدَعَهُ عِنْدَ مُسْلِمٍ أو ذِمِّيٍّ فَهُوَ لَهُ وَغَيْرُهُ فَيْءٌ (۱۱) وَمَنْ قَتَلَ مُسْلِمًا خَطَأً لَا وَلِيَّ لَهُ او حَرْبِيًّا جَاءَنَا بِأَمَانٍ فَأَسْلَمَ فَدِيَتُهُ على عَاقِلَتِهِ لِلْإِمَامِ (۱۲) وفي الْعَمْدِ الْقَتْلُ او الدِّيَةُ لَا الْعَفْوُ

ترجمه: که راغی موږ ته حرب په امن اخیستلو سره ،او دهغه په دارالحرب کې ښځه او بچی دی او دهغه له مسلمان او ذمی او حربی سره مال دی نو اسلام قبول کړ هغه دلته بیا غلبه ومونده شوه پر کفارونو دا ټول غنیمت دي ،او که هلته مسلمان شو بیا موږ ته راغی بیا پر کفارو غلبه ومونده شوه نو دده کوچنی بچی به ازاد مسلمان وي او کوم څه چې ده امانت ایښي دي له مسلمان یاذمی سره نو هغه دهغه دي او له دې څخه علاوه ټول غنیمت دي ،او چا چې کوم داسې مسلمان خطاء قتل کړچې دهغه کوم ولی نه وي یا یې داسې کافر قتل کړ کوم چې په امن اخیستلو سره موږ ته راغلی وو بیا یې اسلام قبول کړی وو نو دهغه دیت دهغه پر عاقله دی امام المسلمین ته به ورکول کیږي ،او په عمداً قتل کولو کې قصاص دی یا دیت دی نه عفوه .

تشریح:(۹)که یو حربی امان واخیست دارالاسلام ته راغی حال دا چې په دارالحرب کې دهغه ښځه او ماشومان دي او هلته دده مال دی چې له هغه څخه څه دکوم مسلمان سره امانت دی او څه له کوم ذمی سره او څه له کوم حربی سره ودیعت دی بیا هغه حربی دلته مسلمان شو بیا مسلمانان په دارالحرب غالب شول نو دا دي

حربي ټول مال به غنيمت وي دده دبنځي اوبالغ اولادغنيمت والى خوظاهردى ولى چې داكسان حربي كافران دي ددي نوي مسلمان شوى تابع نه دي لهذاغنيمت دي باقي كوچنى اولادپه دي وجه غنيمت دى چې هغه په دي وخت كې دپلارتابع نه دي لهذادده كوچنى اولادبه هم غنيمت وي ،همداشان داسلام په وجه سره دده نفس خومحفوظ شومگردتبائن دارين په وجه سره به دده مال محفوظ نه وي لهذادده مال به هم غنيمت وي.

(۱۰)او كه داحربى لومړى په دارالحرب كې مسلمان شوبيادارالاسلام ته راغى بيامسلمانان پرهغه ملک قابض شول نو ددي كس نابالغ اولاددپلارپه تابع كيدلوسره ازاداومسلمان دي ولى چې دده داسلام راوړلوپروخت دااولاددده په قبضه اوولايت كې ووپه دي وجه چې تبائن دارين نشته ،اودده چې كوم مال له مسلمان يا ذمي سره وديعت ايښى دى هغه به اوس هم دده وي ولى چې هغه په محترمه قبضه كې دى په دي وجه چې دقابض قبضه دده دذاتى قبضي په شان ده اوله دي دووقسمه مالونوڅخه علاوه دده پاتي مال مثلاكوم چې دحربى په قبضه كې وي نو هغه غنيمت دى ولى چې دحربى په قبضه كې موجودمال په محترمه قبضه كې نه دى.

(۱۱)كه چاكوم داسي مسلمان خطاءقتل كړچې دهغه يو وارث هم نه وي ياداسي كوم حربى چې هغه په امان اخيستلوسره داراسلام ته راغلى ووبيادلته مسلمان شوى ووچاقتل كړنو دهغه ديت دقاتل پرعاقله واجب دى ولى چې ده معصوم نفس قتل كړى دى اوڅرنگه چې دمقتول كوم وارث نشته لهذاعاقله به داديت امام المسلمين ته اداءكوي بيابه يې امام المسلمين به بيت المال كې جمع كوي ،اوكه هغه عمداًقتل كړى وي نوامام المسلين لره اختياردى كه يې خوښه وي نوقاتل دي قصاصاًقتل كړي ولى چې ده معصوم نفس قتل كړى دى اودمقتول ولى په دي وخت كې امام المسلمين دى لقوله ﷺ السلطان ولى من لاولى له (يعنى سلطان دهغه ولى دى دچاچې هيڅ ولى نه وي)،اوكه يې خوښه وي نوپه صلح كولوسره دي ديت واخلي ولى چې كله كله ديت اخيستل داهل اسلام لپاره ډيرمفيدوي كه څه هم په قصاص اخيستلوكې دانزجارفائده ده ،اوديت اخيستل دصلح په ډول دي كه نه نو دقتل عمدموجب قصاص اخيستل متعين دى.

(۱۲)البته امام المسلمين ته دمعاف كولواختيارنشته ولى چې دلته له قاتل څخه په ديت اخيستلوكې دټولومسلمانانوحق دى اودامام ولايت پرمصلحت مبنى دى ظاهره ده چې دعامو مسلمانانوحق بلاعوضه ساقطولوكې هيڅ مصلحت اوفائده نشته لهذاامام المسليمن ته معافولوحق نشته.

باب العشر والخراج والجزية

داباب دعشر،خراج اوجزيه په بيان كې دى

ذمي چې په کوم شئ سره ذمي جوړيږي دهغه له بيانولو څخه ورسته مصنف رحمه الله هغه مالي وظائف بيانوي کومي چې له ذمي څخه له ذمی کيدلو څخه وروسته وصول کيږي ،په دي باب کې دعشرييان هم کړی دی ترڅو دظائف ماليه دبيان تکميل او تتميم وشي.

ف:عشربضم العين ،دځمکي په حاصلاتوکې چې شريعت کوم زکوة مقررکړی دی هغه ته عشروېل کيږي،خراج هغه زرعی ټيکس دی کوم چې په بنيادي ډول سره داسلامي مملکت په غيرمسلم رعايا باندي دځمکي له حاصلاتو څخه دعشرپرځای لګول کيږي،جزيه دهغه ټيکس نوم دی کوم چې په اسلامي مملکت کې له اوسيدونکو غيرمسلم ابادي (ذميانو)څخه فی کس(دنفرپرسر)وړل کيږي ،ددي ټيکس په وجه سره هغوئ ته هغه ټولي ښاري اسانتيافراهم کيږي کومي چې دملک دنورو ښاريانولپاره مهياشوي وي.

(١)أَرْضُ الْعَرَبِ (٢)ومَا أَسْلَمَ أَهْلُهُ أَوْ فُتِحَ عَنْوَةً وَقُسِمَ بَيْنَ الْغَانِمِينَ عُشْرِيَّةٌ (٣)وَالسَّوَادُ (٤)ومَا فُتِحَ عَنْوَةً وَأُقِرَّ أَهْلُهَا عَلَيْهِ أَوْ فُتِحَ صُلْحًا خَرَاجِيَّةٌ (٥)وَلَوْ أَحْيَا أَرْضًا مَوَاتًا يُعْتَبَرُ قُرْبُهُ (٦)وَالْبَصْرَةُ عُشْرِيَّةٌ

ترجمه:دعربو ځمکي او هغه ځمکي چې اوسيدونکي يې مسلمان شوي وي ياهغه کومي چې قهراً فتح شوي وي او په غازيانو تقسيم شوي وي عشری دي ،او سواد عراق ،او هغه کومي چې قهراًفتح شوي وي اودهغواوسيدونکي پرهغو برقرارپاتي کړل شوي وي يا له هغو سره صلح شوي وي خراجي دي ، او که يې خرابه ځمکه ابادہ کړه نواعتباربه وي دهغي دقرب،اوبصره عشری ده.

تشريح:(١)قوله ارض العرب ،دځپلو معطوفاتو سره مبتداء ده او ،عشرية ، دهغه لپاره خبرده .يعنی دعربو ټولي ځمکي عشرې دي ولی چې نبی کريم ﷺاو خلفاء راشدينو ﷺ له عربو څخه عشر اخيستی، او همدراز خراج ابتداء صرف په عقدذمه سره واجبيږي او دعربوله مشرکانو سره عقدذمه صحيح نه ده بلکه دهغوئ لپاره اسلام راوړل ياقتل متعين دی، دعربو ځمکي په اوږدوالی کې له عذيب (د کوفي له کليو څخه ديو کلی نو م دی)څخه نيولي بياپه يمن کې دمهره (مهره په يمن کې ديو ځای نو م دی) ترډبري پو ري دی او، عرض(پلنوالی) يې له ريګ روان ،څخه نيولی بياتر،حدشام ،پوري دی.

(٢)اود کوموځمکواوسيدونکي له دي څخه وړاندي چې امام پر دوئ قدرت حاصل کړي مسلمان شي نو دهغوئ دا ځمکي عشری دي ،او همداشان کومه ځمکه چې امام قهراً فتح کړي او په مجاهدينو يې تقيسم کړي هغه هم عشری دي ولی چې دمسلمانانو دځمکو وظيفه عشر ده او دمسلمان په حق کې عشر زيات لائق دی ولی چې په عشر کې دعبادت معنی موندل کيږي.

(٣)د،سواد عراق،ځمکې خراجي دي ولی حضرت عمر ﷺ کله عراق فتح کړنو دصحابه کرام ﷺ په موجود کې کې يې پر هغو خراج مقرر کړ ، همداراز دکفارو دځمکو وظيفه خراج دی .او عراقی ځمکي په،عرض،کې له عذيب (دبنو تميمو ديو چيني نوم دی)څخه نيولي بيا تر،عقبه حلوان (ديو ښار نو م دی)پوري دي،او په،طول،کې،له علث،(حدعراق باندې ديو کلي نو م ده)څخه شروع بياتر، عباداں،(دجزيري نو م ده)پو رې دي.

(۴)کو مې ځمکې چې قهرا فتح شوي وي او بيا امام دځمکو اوسيدونکي په هغو ځمکو برقرار پرېښي وي،یایې له هغوسره صلح کړې وي یعنی په دواړه صورتونو کې یې پرغانمینو نه وي تقسیم کړې نو دا ځمکې خراجې دي ولی چې خراج دکفارو دځمکو وظیفه ده او دکفارو لپاره همدامناسبه ده ولی چې په خراج کې دعقوبت معنی موجوده ده .

(۵)چاچې ارض موات (یعنی غیرآبادي ځمکي)آبادي کړي نو دامام ابویوسف رحمه الله په نزد به ددي ځمکې دعشری یاخراجی کیدلو اندازه ددي په برابرواوقریبوځمکوسره لګول کیږي که نژدي ځمکه خراجی وي نودابه هم خراجی وي اوکه هغه عشری وي نودابه هم عشری وي ولی چې قریب الشئ دشئ په حکم کې وي ،اوکه دعشری او خراجی په منځ کې وي نوهغه عشری ده .

ف:دامام محمد رحمه الله په نزد که یې ارض موات ،دباران په اوبو سره اوبه کړي وي یایې څاه کنبلي وي یادچينمي په ايستلوسره اوبه کړي وي یایې په درياب دجله يادرياب فرات یاپه داسي لوی نهر(ويالي) سره اوبه کړي وي چې دهغې هيڅ مالک نه وي لکه سيحون اوجيحون نوداسي ځمکه عشری ده ولی چې ددي اوبه عشری دي اوکه یې په داسي لويونهرو(ويالو)سره اوبه کړي وي کوم چې عجمي بادهاشانو کيندلي وي لکه نهرملک کسری نوشیروان یانهریزدجرد نوداځمکه خراجی ده ولی چې اعتباراوبولره دی په دي وجه چې دحاصلاتوسبب اوبه وي.

ف:دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی لمافی الشامیة (قوله اعتبر قربه)ای قرب احیاه ان کان الی ارض الخراج اقرب کانت خراجیة وان کان العشر اقرب فعشریة.......عندابی یوسف واعتبر محمد الماءفان احیاه بماء الخراج فخراجیة والا فعشریة بحر،وبالاول یفتی درمنتقی(ردالمحتار:۳\۲۸۴)

(۶)البته بصره دطرفینو په نزد عشري ده ،او دامام ابویوسف رحمه الله دمذهب مطابق قیاس مقتضی ووچې بصره خراجي شي ولی چې قهراًفتح شوي ده اوددي اهل پردي برقرارپرېښودل شوی دی ،لیکن صحابه کرامو رضی الله عنهم پردي عشرمقررفرمایلې دی په دي وجه طرفینو قیاس پرېښی دی .

(۷)وَخَرَاجُ جَرِيبٍ صَلُحَ لِلزَّرْعِ صَاعٌ وَدِرْهَمٌ(۸)وَفِي جَرِيبِ الرَّطْبَةِ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ وَفِي جَرِيبِ الْكَرْمِ وَالنَّخْلِ الْمُتَّصِلِ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ(۹)وَإِنْ لَمْ تُطِقْ مَا وُظِّفَ نُقِصَ (۱۰)بِخِلَافِ الزِّيَادَةِ

ترجمه:اودیوه جریب خراج کوم چې قابل زراعت وي یوه صاع اویودرهم دی ،اودترکاري په یوه جریب کې پنځه درهمه دي اودانګوراوخرماووپه ګڼودرختوکې دیوه جریب خراج لس درهمه دي ،اوکه ده مقررمقدارمتحمل نه وونوکم دي کړای شي ،په خلاف دزیادت .

تشریح:خراج به هغه مقرر کیږي کوم چې حضرت عمر رضی الله عنه په اهل عراق مقرر کړی وو او هغه په دي حساب سره وو چې دهرجریب (دځمکې هغه قطعه چې ،طول ، یې هم شپیته (۶۰)ګزه وي او ،عرض،یې هم شپیته (۶۰)ګزه وي)کوم ته چې اوبه رسیږي اودزراعت (کښت کولو)قابله وي له حاصلاتوڅخه یوه صاع (صاع داتورطلوپیمانه ده)اویودرهم دی، دادخراج ترټولوادنی مقداردی .

(۸)او دترکاري په یوه جریب کې پنځه درهمه دي ،دادخراج اوسط(درمیانه) مقداردی ولی چې دترکاري ځمکې درمیانه ځمکې دي ،او دانګورو او خرماؤ درختي که ګڼي وي نو دهغو په یوه جریب کې

لس درهمه دي ولې چې دادځمکو اعلی قسم دی ،په همدي حساب سره حضرت عمر ﷺ دصحابه کرامو ﷺ په موجودګۍ کې دعراق په والاوو مقرر کړی وو او صحابه کرام ﷺ په هغه انکار نه وکړی نو دا دصحابه کرامو ﷺ اجماع ده .

(۹)او دمذکوره بالااقسامو څخه علاوه که نوري ځمکې (مثلا په کومه کې چې يې زعفرانو کرلي وي)وي نو پرهغو به په حسب طاقت خراج مقررکيږي ولې چې حضرت عمر ﷺ دخراج په مقرر ولو کې دځمکو دطاقت لحاظ کړی دی نو په کومو ځمکو کې چې ده ﷺ خراج نه دی مقرر کړی په هغو کې به موږ هم دځمکې دطاقت لحاظ کوو ،نوکه داسې صورت پيښ شو چې څومره خراج چې پر ځمکه مقرر شوی وي هغې هغه نه شوبرداشت کولای مثلا خراج دومره ډيرشي چې دځمکې دټولو حاصلاتو ثلث وي نو امام دي دا خراج کم کړي بقدرطاقت دي کړي پردي دصحابه کرامو ﷺ اجماع ده.

(۱۰)البته که دځمکې حاصلات ډيروي نودخراج په مذکوره بالامقداراضافه کول صحيح نه دی ولې چې حضرت عمر ﷺ ته دحاصلاتودزيادت خبرورکول شونوده ﷺ دخراج په مقدارکې اضافه ونه کړه .

(۱۱)وَلَاخَرَاجَ إِنْ غَلَبَ علی أَرْضِهِ الْمَاءُ أو انْقَطَعَ أو أَصَابَ الزَّرْعَ آفَةٌ(۱۲)وَإِنْ عَطَّلَهَا صَاحِبُهَا أو أَسْلَمَ(۱۳)أو اشْتَرَى مُسْلِمٌ أَرْضَ خَرَاجٍ تَجِبُ (۱۴)وَلَا عُشْرَ فِي خَارِجِ أَرْضِ الْخَرَاجِ

ترجمه :خراج نشته که غالبه شوي پرخراجي ځمکه اوبه،يااوبه ختمې شوې يافصل ته يو آفت ورسيدی،اوکه خراجي ځمکه مالک بې کاره پريښوده ياهغه مسلمان شو ،يامسلمان خراجي ځمکه واخيستله نوخراج واجب دی ،اوعشرنشته دخراجي ځمکې په حاصلاتو کې .

تشريح :(۱۱)که پر خراجي ځمکه اوبه راغلې چې دهغوپه وجه سره ځمکه دکښت قابله پاتې نه شوه ياېې اوبه ختمې شوې ياکښت ته داسې أسماني آفت ورسيدی چې دهغه په وجه سره کښت بربادشو نو په دې صورتو نو کې پرخراجي ځمکه خراج نشته ،ولې چې دکښت قدرت (يعنی نماء تقديری)پاتې نه شو کوم چې په خراج کې معتبر دی .

(۱۲)که د خراجي ځمکې مالک پرکښت کولو دقدرت سره سره ځمکه بيکاره پريښوده نو پرده خراج واجب دی ولې چې ده لره دکښت کولو قدرت وو ده خپله ضائع کړ همداشان پرکومو خلګو چې خراج واجب وي که له هغوئ څخه يو مسلمان شو نواوس هم له هغه څخه دپخواپه شان خراج ورل کيږي ولې چې دده ځمکه په خراجي والي سره متصفه شوي ده لهذااوس په مالک کې په تغيرراتلوسره دځمکې په صفت کې تغيرنه راځي.

(۱۳)همداشان که مسلمان خراجي ځمکه واخيستله نو اوس به هم له هغه څخه خراج ورل کيږي ولې چې مسلمان ته لکه څرنګه چې دذمي دنو رو املاکو اخيستل جائز دي همداشان دخراجي ځمکې اخيستل هم جائز دي،بيا له مسلمان مشتري څخه به هم خراج ورل کيږي ولې چې صحابه کرامو ﷺ خراجي ځمکې اخيستي او دهغو خراج به يې ورکاوو نو دا دخراجي ځمکو داخيستلو او دهغو دخراج ورکولو دجواز دليل دي .

(۱۴) دخراجي ځمکو په حاصلاتو کې عشر نشته بلکه صرف خراج شته ولې چې دحضور ﷺ ارشاد مبارک دی، چې دیو مسلمان په ځمکه کې عشر او خراج دواړه نه شي سره جمع کیدای او همدا شان تر نن ورځې پورې کوم حاکم دا دواړه نه دي سره جمع کړي نو دا دامت په دې خبره عملی اجماع ده چې په یوه ځمکه کې به دواړه نه جمع کیږي.

فصل في الجزية

دا فصل دجزیې د احکامو بیان کې دی

جزیه لغةً دجزاء په معنی ده نو کافرکه هم جزیه نه ورکولای نو قتل کیدی به نوجزیه دقتل بدله اوجزاء ده په دې وجه هغې ته جزیه ویل کیږي ،دجزیه اصطلاحي تعریف له دي ځخه وړاندي تیرشوی دی ،جزیه دمطلق خراج دوهم قسم دی البته لومړی قسم (دځمکي دحاصلاتو خراج)ځرنګه چې قوی دی ولې چې که دځمکي مالک مسلمان شي بیابه هم واجب وي حال داچې جزیه په اسلام قبلولو سره ساقطیږي په دې وجه یې هغه قسم له دې دوهم قسم ځخه وړاندې ذکرکو.

(۱) الجِزيَةُ لو وُضِعَتْ بِتَرَاضٍ وَصُلْحٍ لا يُعْدَلُ عنها (۲) وَإلَّا يوضَعُ على الفَقِيرِ المُعْتَمِلِ في كل سَنَةٍ اثْنَا عَشَرَ دِرْهَمًا وَعَلَى وَسَطِ الحَالِ ضِعْفُهُ وَعَلَى المُكْثِرِ ضِعْفُهُ (۳) وَتوضَعُ على كِتَابِيٍّ وَمَجُوسِيٍّ وَوَثَنِيٍّ عَجَمِيٍّ (۴) لا عَرَبِيٍّ (۵) وَمُرْتَدٍّ وَصَبِيٍّ وَامْرَأَةٍ وَعَبْدٍ وَمُكَاتَبٍ وَزَمِنٍ وَأَعْمَى وَفَقِيرٍ غَيْرِ مُعْتَمِلٍ (۶) وَرَاهِبٍ لا يُخَالِطُ

ترجمه: جزیه که د طرفینو په رضا او خوښه سره مقرره شوه نو عدول نه کیږي له هغې ځخه ،که نه نو مقرریږي به پرفقیرباندي چې مزدوري کوي هرکال دولس درهمه اوپرمتوسط الحال باندي ددي دوو چنده، اوپرغني دهغه دوچنده ،اوجزیه به مقرریږي پرکتابی او مجوسی اوعجمی بت پرست باندي ،نه پرعربی بت پرست باندي ، اوپرمرتد اونابالغ اوښځي اوغلام اومکاتب اوشل اوړانده اوپه مزدوري نه کونکی فقیر ،اوپه داسي راهب کوم چې له خلګو سره راشه درشه نه لري .

تشریح:(۱) جزیه (ټیکس)پردوقسمه ده یوه هغه چې په خپلي منځی رضااوصلح سره مقرره کړای شي نودهغې مقداربه هغه وي پرکوم چې فرقین (امام المسلمین اوکافرقوم)اتفاق کړی وي ولې چې ددې موجب خپلي منځي رضاده نوپرکوم چې اتفاق شوی وي هغه به ورل کیږي له هغه ځخه زیات به نه ورل کیږي ولې چې له دې ځخه تجاوکول غدرشمارل کیږي کوم چې جائزنه دی .

(۲) قوله والاتوضع ای وان لم توضع بالتراضی بل بالقهر بان غلب علیهم والزمهم علیها ،یعنی دوهم قسم جزیه هغه ده چې کله امام پرکفاروغالب شي اودهغوئ ملک فتح کړي اودهغوئ ملکیتونه دهغوئ په قبضه کې پریږدي په خپله په شروع کولوسره پرهغوئ جزیه مقرره کړي هیڅ قسم صلح اوتراضی نه وي ،ددې قسم دجزیه تفصیل په دې ډول دی چې که هغه خلک فقیران (کوم چې تردوسوه درهمه دلږومالک وي اولایملک شیئا)وي اومزدوري کوي له هغوئ ځخه به هرکال دولس درهمه ورل کیږي هرمیاشت به یودرهم ورل کیږي ،اوکه هغه خلک متوسط الحال وي یعنی کوم چې له دوه سوه درهمه ځخه بیاترلس زره پوري درهمومالک وي پرهغوئ به دفقیرانو دوچنده(دوه برابره)مقرریږي یعنی هرکال څلرویښت درهمه مقرریږي اوداساني

لپاره به هره میاشت دوه درهمه ورل کيږي ،اوكه داسي غنيان وودکوموچې غناء ښکاره وي يعنى كوم چې دلسوزرويازياتودراهمومالكان وي نوپرهغوئ به دمتوسط الحال والودوچنده مقررېږي يعنى پرهغوئ به هركال اته څلويښت (۴۸)درهمه مقررېږي بيابه داساني لپاره په هره مياشت کې څلوردرهمه ورل كيږي همدا تفصيل له حضرت عمر ،حضرت عثمان او حضرت على ﷺ څخه منقول دی له انصاروا و مهاجرینو څخه هيچاپرد دي انكارنه دی کړی لهذا داصحابه كرامو ﷺ له طرف څخه پردي مقدارونو اجماع شمارل كيږي .

(۳)جزيه پر اهل كتابو او مجوسو باندې مقرر كيږي لقوله تعالى ﴿من اللذين اوتو االكتاب حتى يعطو االجزية﴾ (يعنى له هغو ئ سره ترهغه وخته وجنګيږئ ترڅو هغوئ ستاسي تابع اورعيت جوړ شي او جزيه قبوله کړي)او حضور ﷺ پر مجوس هجر باندې جزيه مقرره کړي وه لهذا له مجوسو څخه به هم جزيه ورل كيږي،او پرعجمي عبدة الاوثان ،(يعنې پر عجمي بت پرستانو)به هم جزيه مقرركيږي ولى چې هغوئ غلام جوړول جائز دي نو پرهغو ئ جزيه مقررول هم جائز دی .

(۴)قوله لاعربي اى لاتوضع على ولنئ عربى ،يعنى دعربوپر بت پرستانو به جزيه نه مقررېږي ولى چې نبى كريم ﷺ دهغوئ په منځ کې پیداشوی دی اوقران مجيدد هغوئ پرژبه نازل شوی دی نودهغوئ په حق کې معجزات ډيري ښکاره دي لهذا داخلک اوس په كفركولوكې معذورنه دي لهذا دهغوئ لپاره دوه لاري دي ياخوډي مسلمان شي يابه قتل كيږي ،همدشان پرمرتدينوهم جزيه نه مقررېږي ولى چې هغوئ داسلام طرف ته دهدايت موندلو او دمحاسن اسلام له ليدلو وروسته كفروكړنوله هغوئ څخه به له اسلام څخه ماسوا هيڅ نه منل كيږي .

(۵)قوله وصبى وامراة الخ اى لاتوضع على صبى وامراة الخ ،يعنى پر نابالغ هلك ، كافره ښځه ،مكاتب غلام ، شلي،اوړانده، باندې به جزيه نه مقررېږي ولى چې جزيه پركافرانو دهغوئ دقتل كولوپه عوض کې واجبيږي يادهغوئ دقتال په وجه سره واجبيږي حال داچې مذكوره كسان خونه قتل كيږي اونه دوئ قتال كوي ولى چې په دوئ کې دقتال اهليت نشته، اوپرداسي فقيربه هم جزيه نه مقررېږي كوم چې مزدوري نه كوي ولى چې حضرت عثمان ﷺ دصحابه كرامو ﷺ په موجودوالى کې له داسي مزدورانو څخه جزيه نه اخيستله .

(۶)قوله وراهب لايخالطهم اى لاتوضع على راهب لايخالطهم .يعنى پرداسي راهبانو هم جزيه نه مقررېږي كوم چې له آبادي څخه دباندې په خپلو ځالوكې تنهااوسيږي وجه يې داده چې كله دوئ له خلكوسره راشه درشه نه لري نوددوئ دقتل كولو حكم نشته نو جزيه به هم پردوئ نه مقررېږي ولى چې پركافرانو جزيه دقتل دساقطوالي په وجه سره مقررېږي .

(۷)وَتَسقُطُ بِالإِسلَامِ(۸)وَالتَّكرَارِ (۹)وَالمَوتِ (۱۰)وَلَاتُحدَثُ بِيعَةٌ وَلَا كَنِيسَةٌ فِي دَارِنَا(۱۱)وَيُعَادُ المُنهَدِمُ(۱۲)وَيَمتَازُ الذِّمِّيُّ عَنَّا فِي الزِّيِّ وَالمَركَبِ وَالسَّرجِ(۱۳)فَلَا يَركَبُ خَيلًا وَلَا يَعمَلُ بِالسِّلَاحِ وَيُظهِرُ الكُستِيجَ وَيَركَبُ سَرجًا كَالإِكَافِ(۱۴)وَلَا يَنتَقِضُ عَهدُهُ بِالإِبَاءِ عَنِ الجِزيَةِ وَالزِّنَا بِمُسلِمَةٍ وَقَتلِ مُسلِمٍ وَسَبِّ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم(۱۵)بَل بِاللِّحَاقِ ثَمَّةَ اَو بِالغَلَبَةِ عَلَى مَوضِعٍ لِلحِرَابِ وَصَارُوا كَالمُرتَدِّ.

ترجمه: او جزيه ساقطيږي په مسلمانيدلو ،اوپه مكرر كيدلوسره ،اوپه مره كيدلوسره ،اونه به جوړيږي نوي كليسا اونه ګرجاپه دارالاسلام کې ،هورنګه شوي بيرته دوهم ځل جوړولى شي ،اوځان به ممتاز ساتي ذمى

له موږ څخه په هیئت او سورلی اوین کې ،نو هغه به نه په آس سپریږي او نه به اسلحه استمالوي او ښکار به ساتي زنار او پړاسي زین به سپریږي کوم چې دکتې په شان وي ،او نه ماتیږي دده عهد ذمه له جزیه څخه په انکار کولو سره او له مسلماني ښځې سره په زنا کولو سره او د مسلمان په قتل کولو سره او نبی کریم ﷺ ته په ښکنځا کولو سره ،بلکه دار الحرب ته په تللو سره یا د جنګ کولو لپاره پر کوم ځای په غالب کیدلو سره او د مرتد په شان کیږي .

تشریح :(۷)قوله وتسقط بالاسلام ای تسقط الجزیة لو اسلم من علیه الجزیة .یعنی که دیو ذمی پر ذمه جزیه وه بیا هغه مسلمان شو نو هغه جزیه دده له ذمي ساقطیږي﴿لقوله ﷺ من اسلم فلاجزیة علیه﴾(کو م چا چې اسلام قبول کړ دهغه په ذمه جزیه نشته)او همدا شان جزیه بطور عقوبت واجبیږي او د اسلام په وجه سره عقوبت ختمیږي په دی وجه هم جزیه ساقطیږي .

(۸)قوله والتکرر ای وتسقط الجزیة بتکرار السنة .یعنی که پر کوم ذمی ددوو کلونو جزیه جمع شي نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد په دي کې تداخل کیږي یعنی اوس به دیوه کال جزیه اداءکوي ولی چې جزیه عقوبت ده او قاعده داده چې چیرته دیوه قسم دوه عقوبته جمع کیږي هلته په یوه اقتصار کیږي لکه په حدودو کې ،دصاحبینو په نزد نه ساقطیږي بلکه له ده څخه به مطالبه کیږي ولی چې دا دده پر ذمه واجب شوي ده لکه څرنګه چې د مسلمان پر ذمه ذکوة واجبیږي لهذا دزکوة په شان به جزیه هم له ذمه څخه نه ساقطیږي .

ف :دامام صاحب قول راجح ده لمافی الدر المختار :اذااجتمع علیه حولان تداخلت والاصح سقوط جزیه السنة الاولی بدخول السنة الثانیة(الدر المختار علی هامش رد المحتار:۳\۲۹۵)

.(۹)قوله والموت ای وتسقط الجزیة بموت الذمی ایضا،یعنی دکوم ذمی پر ذمه چې جزیه وه که هغه مړ شو نو هم جزیه ساقطیږي ولی چې جزیه عقوبت په ډول واجبیږي او عقوبت په دنیا کې په دي وجه مشروع دی ترڅو په دي سره دکافرانو کفري شرارت دفع وي او هغه شرارت اوس د مرګ په وجه سره دفع شو لهذا جزیه هم ساقطیږي .

(۱۰)یعنی په دار الاسلام کې دنصارا او یهودو لپاره نوې بیعه (دنصارا او عبادت ځای)او کنیسه (دیهود عبادت ګاه) جوړول جائزنه دي﴿لقوله ﷺ لا اخصاء فی الاسلام ولا کنیسة﴾(یعنی په اسلام کې ځان خصي کول نشته او دکلیسا جوړل نشته)دیهود او نصارا و ددواړو په عبادت ځای دکلیسا اطلاق کیږي،البته غالب استعمال یې دیهود دعبادت ګاه لپاره دی .

(۱۱)البته که زړه بیعه یا کلیسا ونړیږي نو هغه جوړولای شي ولی چې دحضور ﷺ له زماني څخه ترننه پوري دهغوئ عبادت ګاوي په دار الاسلام کې موجودي دي ،نو داله ورانیدو وروسته دبیا جوړولو دلیل دی ،او همدا شان عمارت خو همیشه نه پاتي کیږي او امام چې کله ذمیان پریښول نو ګوا کې ده دهغوئ دعبادت ګاو دبیرته جوړولو عهد هم ورسره وکړ .

(۱۲)کوم ذمی چې په دار الاسلام کې اوسیږي له هغوئ څخه به دا عهد اخیستل کیږي چې په هغوئ کې او په مسلمانانو کې دامتیاز لپاره به هغوئ په خپل هیئت او لباس کې سورلیانو ، زینانو ، او خولیانو کې کومه امتیازي نښه ایږدي چې په هغه سره هغوئ ذمیان معلوم شي ولی چې حضرت عمر رضي الله عنه هغوئ په دي

امتیازمکلف کړي وواوصحابه کرامو ﷺ داصحیح ګڼله ،همدارازپه دي وجه هم ترڅو دهغوئ حقیروالی ښکاروي اودمسلمانانو معززوالی ښکاره وي ترڅو دکمزورعقیدو والامسلمانان محفوظ پاتې شي .

(۱۳)ذمی به په دارالاسلام کې پرآسانو نه سپریږي او نه به له خپل ځان سره اسلحه رااخلي ولی چې په دي کې دهغوئ لپاره وسعت او اعزاز دی وقد امرنا بالتّضییق علیهم ،همداشان به ذمی کستیج (کستیج دوړیوادنی سپنسي ته ویل کیږي کوم چې ډیرپنډوي)دکفر دعلامې په ډول سره پرخپلو جامو برسیره تړي او پرداسې زین به سپریږي چې هغه دکتې په شکل وي داټول ددي لپاره ترڅودهغوئ حقیروالی ښکاره وي اودکمزوروعقیدو مسلمانان محفوظ پاتي شي .

(۱۴)که ذمی دجزیه له اداءکولو څخه انکاروکړ یایې له یوي مسلماني ښځې سره زناوکړه یایې یو مسلمان قتل کړ یایې حضور ﷺ ته (نعوذبالله)ښکنځا وکړه نودده دذمی والی عهدنه ماتیږي ولی چې له ده سره جنګ کول پرکوم حدپای ته رسیږي هغه دادی چې کافرپرخپل ځان دجزیه التزام وکړي نه داچې جزیه اداء کړي لهذاله جزیه څخه دانکارکولوپه صورت کې التزام جزیه پاتي دی لهذاله ده څخه به جبراورل کیږي ،پاتي شودقتل مسلمان ،اوله مسلماني ښځې سره زناکول اودسب النبی ﷺ په صورت کې هم ځرنګه چې التزام جزیه باقی دی لهذاعهدذمه نه ماتیږي ،البته دقتل مسلم په صورت کې به له ده څخه قصاص اخیستل کیږي ،اودزنی په صورت کې به پرده حدجاري کیږي ،اونبی کریم ﷺ ته دښکنځاکولوپه صورت کې به هغه ته سزاورکول کیږي .

(۱۵)قوله بل باللحاق لمّه الخ ای بل ینتقض عهده باللحاق بدارالحرب الخ .یعنی په مذکوره امورو سره دذمی عهدذمه نه ماتیږي بلکه دالحرب ته په تللوسره یادذمیانودکوم جماعت پري کوم ځای په غالبه کیدلواوله مسلمانانوسره دجنګ په شروع کولوسره عهدذمه ختمیږي ولی چې اوس دذی والی عهدبي فائدي شوپه دي وجه چې معاهده خودجنګ دشردفع کولولپاره ووحال داچې هغوئ خوجنګ شروع کړی دی لهذادحربی کیدلوپه وجه سره دهغوئ عهدماتیږي ،لهذاپه دي دووصورتونوکي هغوئ دمرتدپه حکم کې ګرځي یعنی اوس دهغوئ قتل کول اودهغوئ مال دهغوئ په وارثانوتقسیمول صحیح دي ولی چې اوس هغوئ دتبائن دارینوپه وجه سره له امواتو (مرادغیرمسلم دي)سره یوځای شوي دي .

(۱۶)وَلَا تُؤْخَذُ مِنْ تَغْلِبِيٍّ وَتَغْلِبِيَّةٍ ضِعْفُ زَكَاتِنَا (۱۷)وَمَوْلَاهُ كَمَوْلَى الْقُرَشِيِّ (۱۸)وَالْجِزْيَةُ وَالْخَرَاجُ وَمَالُ التَّغْلِبِيِّ وَهَدِيَّةُ أَهْلِ الْحَرْبِ وَمَا أَخَذْنَا مِنْهُمْ بِلَا قِتَالٍ يُصْرَفُ فِي مَصَالِحِنَا كَسَدِّ الثُّغُورِ وَبِنَاءِ الْقَنَاطِرِ وَالْجُسُورِ وَكِفَايَةِ الْقُضَاةِ وَالْعُلَمَاءِ وَالْمُقَاتِلَةِ وَذَرَارِيهِمْ (۱۹)وَمَنْ مَاتَ فِي نِصْفِ السَّنَةِ حُرِمَ عَنِ الْعَطَاءِ

ترجمه،اوورل کیږي به له بالغ تغلبی نارینه اوښځي څخه زموږدزکوة دوه چنده ،اودهغوئ ازادکړل شوی غلام دقریشیانو دازادکړل شوی په شان دی ،اوخراج اوجزیه اودتغلبی مال اودکافرانوهدایاوي اوکوم څه چې موږله هغوئ څخه بلاقتاله وروهغه به زموږپه مصالحوکې مصرفیږي لکه دسرحداتوپه مضبوطولوکي چنیو اولویپلونوپه جوړولوکې او دقاضیانو اوعالمانواوسپاهیانواودهغوئ اولادونوته دظیفي په ورکولوکې ،اوکوم چې دکال په منځ کې مرشي نوهغه به له بخشش څخه محرومیږي .

تشريح:(۱۶)يعنې دخاندان بني تغلب دنصاراوو له مالو نو څخه به ټيکس هغه زکوة دوه برابره اخيستل کيږي کوم چې له مسلمانانو څخه اخيستل کيږي ولې چې له هغوئ سره صلح په همدې شان سره شوي وه ،اودهغوئ له ښځو څخه به هم اخيستل کيږي ليکن دهغوئ له ماشومانو څخه به نه اخيستل کيږي ولې چې صلح په دوه چنده زکوة شوي ده اوکوة زموږ پرښځوواجب دی پرماشومانونه دی واجب نوددوچنده به هم همدا حال وي.

ف:بنی تغلب دعربو له نسل څخه دي کوم چې دجاهليت په زمانه کې عيسايان شوي وو بيا حضرت عمر ﷛ دخپل خلافت په زمانه کې له هغوئ څخه جزيه طلب کړه نودي خلگوانکار وکړچې موږعرب يوله موږسره دي دنورو عربوپه شان معامله وکړای شي مگرحضرت عمر ﷛ وفرمايل چې له مشرک څخه صدقه نه اخلم ددې په اوريدلوسره له دهغوئ څخه ځيني وتښيدل اوله نصارى روم سره يوځای شول نونعمان بن زرعه عرض وکړای اميرالمؤمنينه هغوئ دجزيه په ورکول شرميږي لهذاته دصدقه په نامه سره له هغوئ څخه جزيه وصول کړه اودښمنان دهغوئ کومک ته مه پريږده نوحضرت عمر ﷛ هغوئ راوغوښتل څومره اندازه چې له مسلمانانو څخه زکوة اخيستل کيدی دهغه دوچنديې دهغوئ په نارينه اوښځومقرر کړاوپردي صحابه کرامو ﷺ اتفاق وکړ.

(۱۷)يعنې دتغلبي پرازاد کړای شوي غلام جزيه او خراج لازم دی خو دتغلبيانو په شان به له هغوئ څخه دو چنده نه اخستل کيږي لکه چې دهاشميانو پرآزادکړي غلام باندي چې جزيه او خراج واجب دی ولې چې دتغليبي څخه دو چنده اخيستل تخفيفا دی او ازاد کړای شوی غلام په تخفيف کې له ازاد دو نکو سره نشي برابر کيدلای په دي وجه دمسلمانانو پرازاد کړای شوي غلام جزيه واجب ده.

(۱۸)يعنې کوم مال چې امام دخراج اوجزيه اوله بنی تغلب څخه په اخيستلو جمع کړی وي ياکوم چې اهل حرب امام ته تحفة راليږي وي يادهغوئ هغه مالونه کوم چې له هغوئ سره له جنگ کولوبغيرمسلمانانوته په لاس ورغلي وي داټو ل به دمسلمانانوپه عامومصلحتونوکې مصرفيږي لکه داسلام سرحدونه په فوځ سره مضبوط کو ل اوپه دريابونواوپالوپلونه جوړول همداشان دمسلمانانو قاضيانو اوعمالو(لکه مفتی محتسب وغيره)اوعلماوته دومره ورکول کوم چې هغوئ اودهغوئ اولاد لره کفايت وکړي ،همدشان له دي څخه دمجاهدينواودهغوئ داولادرزق ورکول ،وجه داده چې دامالونه دمسلمانانوپه قوت سره بغيرله جنگ کولوحاصل شوي دي نودابه دمسلمانانودعامومصلحتونولپاره وي اومذکوره بالامصارف دعامه خلگوله مصلحتونو څخه دي.

ف:جسر (په معنی دپل) له قنطره څخه عام دی ولې چې جسر کله دلرگي وي اوکله دخاوري ،حال داچې قنطره صرف له ډبرو څخه جوړه شوي وي.

(۱۹)له مذکوره بالا قضاة او علماؤ څخه چې کوم يو دکال په منځ کې مړشي نو هغه ته به له مذکوره بالاسرکاري عطاياو څخه اوس هيڅ نه ورکول کيږي ولې دايو قسم صله ده په همدې وجه خودي عطاياويل کيږي لهذاله قبضي څخه وړاندي يې هيڅوک مالک نه دی اوپه مرگ سره ساقطيږي.

بَابُ الْمُرْتَدِّيْنَ

داباب دمرتدينو داحكامو په بيان كې دى

كله چې مصنف رحمه الله دكفراصلي له بيان څخه فارغ شونودكفرعارضي يعنى ارتدادبيان يې شروع كړدتاخيروجه ظاهره ده.مرتدپه لغت كې دګرځيدونكي په معنى دى اوشرعاًله دين اسلام څخه ګرځيدلي ته مرتدوايې ،دارتداددصحت لپاره عقل،افاقه،اوپه خوښي سره مرتدوالى شرط دى،لهذا دمجنون،معتوه،كوچنى،په نشته كې دمست اومكرَه ارتداد صحيح نه دى.

(۱)يُعْرَضُ الْإِسْلَامُ عَلَى الْمُرْتَدِّ وَتُكْشَفُ شُبْهَتُهُ وَيُحْبَسُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنْ أَسْلَمَ وَإِلَّا قُتِلَ (۲) وَإِسْلَامُهُ أَنْ يَتَبَرَّأَ عَنِ الْأَدْيَانِ سِوَى الْإِسْلَامِ أَوْ عَمَّا انْتَقَلَ إِلَيْهِ (۳) وَكُرِهَ قَتْلُهُ قَبْلَهُ وَلَمْ يَضْمَنْ قَاتِلُهُ (۴) وَلَا تُقْتَلُ الْمُرْتَدَّةُ (۵) بَلْ تُحْبَسُ حَتَّى تُسْلِمَ.

ترجمه :عرض كيږي به اسلام پرمرتداوليري كيږي به دهغه شبه اوبندي كيږي به تردريوورځوپوري نوكه هغه اسلام قبول كړنوښه ده كه نه نو قتل كيږي به ،اودهغه اسلام دادى چې هغه له ټولواديانو څخه برأت اعلان كړي ماسوا له اسلامه، يادكوم لورته چې هغه منتقل شوى دى ،اومكروه ده دهغه قتل كول له اسلام عرض كولو څخه وړاندې اوضامن نه دى دهغه قاتل ،اونه به وژل كيږي مرتده ښځه ،بلكه بندي كيږي به ترڅوچې اسلام راوړي .

تشريح:(۱)كه كوم مسلمان مرتدشو(العياذبالله)نواستحباباًپرهغه اسلام عرض كيږي واجب نه دى ولې چې داسلام دعوت هغه ته رسيدلى دى اوكه هغه ته كومه شبه پيداشوې وي نوهغه دې ختمه كړاى شي ولې چې نبى كريم ﷺ حضرت على رضي الله عنه ته وفرمايل چې كه ستاپه وجه سره الله جل جلاله كوم كس ته هدايت وكړي نودادمابين المشرق والمغرب څخه له وژلو څخه ښه ده ،اوتردريوورځوپوري دهغه په بندي خانه كې واچول شي ترڅوهغه په دې دريوورځوكې غورا وفكروكړي ،هره ورځ دې پرده اسلام عرض كيږي نوكه په توبه ايستلوسره يې بيرته دوهم ځل اسلام قبول كړنوفبها ونعمت ،اوكه يې اسلام قبول نه كړنوهغه به وژل كيږي﴿لحديث رسول الله ﷺ من ترك دينه فاقتلوه﴾(يعنى كوم چاچې خپل دين پريښنودهغه قتل كړئ).

(۲)او دمرتدِ داسلام راوړلو اوتوبه ايستلو طريقه داده چې كلمه شهادت ووايې او له اسلام څخه علاوه له نوروټولو اديانو څخه دبرأت او بيزارى اعلان وكړي ،ولې چې دمرتد هيڅ دين نشته چې له هغه څخه په بيزاري باندې دى دمكلف كړاى شي،او داهم صحيح ده چې له اسلام پريښودلو څخه وروسته چې هغه كوم دين منلى وي صرف له هغه دين څخه دبرأت اعلان وكړي ولې چې په دې سره هم مقصود حاصليږي .

(۳)اوكه له اسلام عرض كولووړاندې چامرتدووژه نودافعل مكروه دى ولې چې ممكنه وه چې داسلام ددعوت په وركولوسره هغه مسلمان شوى واى،نوده مستحب كارپريښى دى ولې چې دارتداد په وجه سره دهغه قتل مباح دى اودعوت اسلام ورته رسيدلي دى لهذا پرهغه اسلام عرض كول واجب نه دي صرف مستحب دى ،مګرپرقاتل قصاص يادیت هيڅ نشته ولې چې ده مباح الدم كس وژلى دى ، هوده ته به تعزيروركول كيږي ولې چې ده بې ځايه جرأت كړى دى .

(۴)كه يوه مسلمانه ښځه مرتده شوه نو هغه به نه وژل كيږي ولې چې حضور ﷺ دښځو له وژلو څخه منع كړې ده او حضور ﷺ داصلي كافري او مرتدي په منځ كې فرق نه دى بيان كړى، همداشان دكافر مباح

الدم کیدلو وجه دهغه له مسلمانانو سره جنګ کول دي او جنګ کول دښځې په حق کې معدوم دی لهذا دهغې قتل مباح نه دی.

(۵)لیکن مرتده به بندي کیږي تر څو هغه مسلمانه شي ولی چې هغې یو ځل دالله ﷻ دحق اقرار کړی ده ،اوس دقدرت درلو دلو باوجوددهغه له اداء کولوانکارکوي نو په بندي کولوسره دهغه په اداء کولومجبوره کیږي کمافی حقوق العباد .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزدبه مرتده ښځه هم قتل کیږي ولی چې د حضور ﷺ حدیث مبارک ﴿من ترک دینه فاقتلوه﴾ (یعنی که چاخپل دین پریښو د هغه قتل کړئ)مطلق دی نر او ښځې دواړوته شامل دی.

(٦)وَيَزُولُ مِلْكُ الْمُرْتَدِّ عَنْ مَالِهِ زَوَالًا مَوْقُوفًا فَإِنْ أَسْلَمَ عَادَ مِلْكُهُ (٧)إِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ وَرِثَ كَسْبَ إِسْلَامِهِ وَارِثُهُ الْمُسْلِمُ بَعْدَ قَضَاءِ دَيْنِ إِسْلَامِهِ (٨)وَكَسْبُ رِدَّتِهِ فَيْءٌ بَعْدَ قَضَاءِ دَيْنِ رِدَّتِهِ.

ترجمه :او زائلیږي دمرتد ملک دهغه له مال څخه په موقوف زوال نو که هغه مسلمان شي نو بیرته راګرځي دهغه ملک، او که مړشو یا ووژل شو پرردت نو وارث ګرځي دده داسلام دوخت دګټې دهغه مسلمان وارث دحالت اسلام دقرض له اداء کولو څخه وروسته ،او دهغه دحالت ردت ګټه به غنیمت وي دحالت ردت دقرض له اداء کولو څخه وروسته .

تشریح:(۶)یعنی دمرتد ملکیت له خپلو مالو څخه دمرتدکیدلو په وجه سره زائلیږي ولی دهغه وینه معصومه پاتې نه شوه نو دهغه مال هم معصوم نه پاتې کیږي مګردمرتد دملک دازوال موقوف دی ترڅو چې دهغه حال مال واضح شي ولی چې دهغه حال مترددی چې په اسلام راوړلوسره به بیرته دعصمت طرف ته راوګرځي اوکه به دمرتدوالی په حالت کې ووژل شي ،بیاکه هغه اسلام قبول کړنو دهغه دمال عصمت خپل مخکنی حال ته بیرته راګرځي ولی چې دهغه وینه اوس معصومه شوه نو دهغه مال هم محفوظ ګرځي .

(۷)او که دردت په حالت کې مړیاقتل شو نو دمرتد هغه مال چې داسلام په حالت کې ګټلی وو نو له هغه مال څخه به اول دمرتد هغه قرضونه اداکړای شي چې هغه داسلام په حالت کې کړي وي له دې څخه وروسته باقې مال دمرتددمسلمانو وارثانو ته منتقل کیږي ولی چې دامال دهغه له مرتد کیدلو څخه وړاندې موجو د وو او دوارث نسبت دهغه داسلام آخیري جزء ته کیږي ولی چې ردّت په منزله دمرګ دی نو داتوریث المسلم من المسلم دی کوم چې صحیح دی .

(۸)او کوم مال چې هغه دردّت په حالت کې ګټلی وي له هغه مال څخه به دردّت دزمانې دقرضو له اداء کولووروسته باقی مال غنیمت ګرځي اوپه بیت المال کې به ایښودل کیږي ولی چې دحالت ردت ګټه دمباح الدم ګټه ده په کومه کې چې دهیچاحق نشته نو دحربي دمال په شان به غنیمت وي .

(٩)وَإِنْ حُكِمَ بِلَحَاقِهِ عَتَقَ مُدَبَّرُهُ وَأُمُّ وَلَدِهِ وَحَلَّ دَيْنُهُ (١٠)وَلَوْ قُتِلَ مُبَايَعَتُهُ وَعِتْقُهُ وَهِبَتُهُ فَإِنْ أَمِنَ نَفَذَ وَإِنْ هَلَكَ بَطَلَ (١١)وَإِنْ عَادَ مُسْلِمًا بَعْدَ الْحُكْمِ بِلَحَاقِهِ فَمَا وَجَدَهُ فِي يَدِ وَارِثِهِ أَخَذَهُ (١٢)وَإِلَّا لَا.

ترجمه :که حکم وشو دهغه دارالحرب ته دتللو نو ازادیږي دهغه مدبرغلام او دهغه ام ولده او دهغه پور حلالیږي،او موقوف کیږي دهغه خرڅول ،ازدول ،او دهغه هبه کول نو که هغه ایمان راوړنو نافذیږي او که

هلاک شونو باطلیږي ،او که هغه مسلمان شو او راغی دارالحرب ته له تللو وروسته نو څه مال چې ومومندي دوارث په لاس کې هغه به ورې ،که نه نو نه به یې وړي .

تشریح :(۹)که کوم کس مرتدشواودارالحرب ته ولاړی (العیاذبالله)اوحاکم دهغه دارالحرب ته دتللوحکم وکړنودهغه له ثلث مال څخه دهغه مدبرغلام اوله ټول مال څخه دهغه ام ولدمینځې ازدیږي اودهغه هغه پورونه چې میعادي(یعني وخت لرونکي وو) وفوري یعني في الحال واجب الاداء ګرځي ولی چې دقاضی پرهغه له دارالحرب سره دملحق کیدلو په حکم کولوسره دی له اهل حرب څخه شو او اهل حرب داسلام داحکامو په حق کې اموات دي ولی چې پرهغوئ هم داموات په شان احکام نه شي لازمیدلای نوګواکی داکس اوس مړشوی دی لهذادهغه مدبرغلام وغیره ازادیږي .

(۱۰)که مرتد دارتداد په حالت کې کوم شئ خرڅ کړیایې واخیستی یایې په خپل مال کې کوم بل تصرف وکړ مثلاچاته یې کوم شئ هبه کړیایې خپل غلام ازادکړنودهغه داهرڅو تصرف موقوف دی ترڅو چې دهغه حال معلوم شي چې هغه به توبه کولوسره مسلمان شي یادارتداد په حالت کې مړشي ، نو که هغه اسلام قبول کړنودهغه داټول تصرفات صحیح کیږي لما مرانه یصیر کانه لم یرتد ،او که هغه مړشو یا ووژل شو یادارالحرب ته ولاړی او حاکم دهغه دتللوحکم وکړنودهغه داټول تصرفات باطلیږي ولی چې اوس هغه معصوم الدم نه دی نودهغه په اهلیت کې خلل واقع شو .

(۱۱)که مسلمان حاکم دمرتد دارالحرب ته دتللو حکم وکړ بیاهغه مسلمان شو او داراالاسلام ته بیرته راغی نوله خپل مال څخه څه دخپلو وراثانو سره یاپه بیت المال کې بعینه ومومندي هغه به وړي ولی چې وارث اوبیت المال په دي وجه دهغه قائم مقام شوي ووچې مرتدله هغه مال مستغنی شوی وواوکله چې هغه مسلمان شواوبیرته راغی نودهغه مال محتاج شولهذاله وراثانو څخه ډیرحقدار او مقدم دی .

(۱۲)قوله والالا ای وان لم یجد المرتد شیئا من ماله فی یدالوارث لایضمن ،یعنی که دوارثانو په لاس کې دهغه له مال څخه یوشئ نه وونو اوس له وارثانو څخه تاوان نه شي وړلی ولی چې دا مال دده وارثانو په داسې وخت کې استعمال کړی دی چې په هغه وخت کې دشریعت له طرفه هغوئ ته دمصرفولو اجازت وو لهذا اوس په هغوئ باندي ضمان نشته .

(۱۳)وَلَوْ وَلَدَتْ أَمَةٌ لَهُ نَصْرَانِيَّةٌ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ مُنْذُ ارْتَدَّ فَادَّعَاهُ فَهِيَ أُمُّ وَلَدِهِ (۱۴)وَهُوَ ابْنُهُ حُرٌّ وَلَا يَرِثُهُ (۱۵)وَلَوْ مُسْلِمَةً وَرِثَهُ الِابْنُ إنْ مَاتَ عَلَى الرِّدَّةِ أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ (۱۶)وَإِنْ لَحِقَ الْمُرْتَدُّ بِمَالِهِ فَظَهَرَ عَلَيْهِ فَهُوَ فَيْءٌ فَإِنْ رَجَعَ وَذَهَبَ بِمَالِهِ وَظَهَرَ عَلَيْهِ فَلِوَارِثِهِ

ترجمه :که ماشوم وزیږاوو دمرتد نصراني مینځې له ارتداد څخه په شپږمیاشتي کې او هغه دعوی وکړه نو هغه دده ام ولده ګرځي ،او ماشوم به دهغه زوی وي ازاد ،او دهغه وارث به نه وي ،او که مینځه مسلمانه وي نوماسوم به دهغه وارث وي که هغه دارتداد په حالت کې مړشو یادارالحرب ته ولاړی ،او که مرتدله خپل مال سره دارالحرب ته ولاړی بیاپرهغه غلبه حاصله شوه هغه به غنیمت وي او که هغه دارالاسلام ته راغی او مال یې یووړبیاپرهغه غلبه حاصله شوه نودهغه مال به دوراثانو وي .

تشریح :(۱۳)که مرتدله داسې نصرانیه مینځې سره وطی وکړه کومه چې داسلام په حالت کې دده په ملک کې وه بیاهغې دده دمرتدوالی له وخت څخه په شپږمیاشتي یاله دي څخه په زیات وخت کې ماشوم وزیږاوو

اومرتد دماشوم دنسب دعوی وکړه نو دامينځه دده ام ولده ګرځي ولی چې دمرتد استيلاد صحيح دی په دي وجه چې استيلا دپه ملک صحيح پوري موقوف نه دی .

(۱۴) او داماشوم دمرتدزوی شمارل کيږي اوآزاددی ولی چې کله دمرتد استيلاد صحيح دی نوله ام ولدي څخه پيدا شوی ماشوم به دهغه زوی وي ،مګرداماشوم به دهغه وارث نه وي ولی چې دده مورنصرانيه ده اوپلار يې اوس مرتدشوی دی کوم چې به دوهم ځل پراسلام مجبوره کيږي لهذاپلاريې دمورپه نسبت اسلام ته ډيرقريب دی لهذاماشوم دپلارپه تابع کيدلوسره مرتدشمارل کيږي اومرتد دهيچاوارث نه وي لهذاهغه ته به ميراث نه ورکول کيږي .اودی مسلمان نه شي ګڼل کيدلای ولی چې له دپلار له ردت څخه وړاندي دهغه وجودمعلوم نه وو.

(۱۵) که د ماشوم مورمسلمانه وينځه وي نو ماشوم دمور تابع دی مسلمان شمارل کيږي ولی چې په دي صورت کې ددين په اعتبارسره موربهتره ده اوماشوم دخيرالابوين تابع وي يا که دهغه پلار دردت په حالت کې قتل شو يادارالحرب ته ولاړی نو.داماشوم دمسلمان شمارل کيدلوپه وجه سره دپلاروارث دی .

(۱۶) که کوم مدتد خپل مال له ځان سره دارالحرب ته يووړيامسلمانان پرهغه ملک غالب شول اودهغه پرمال يې قبضه وکړه نودمال غنيمت دی ،اوکه مرتديواځي دارالحرب ته ولاړی بياپيرته راغی اوله ځان سره يې خپل مال يووړاوس مسلمانان پرهغه مل غالب شول اوپردي مال يې هم قبضه وکړه بيادمرتدوارثانوله مال غنيمت تقسيمدلوڅخه وړاندي داما‌ل وموندنوداما‌ل به وارثانوته ورکول کيږي ،په دواړوصورتونو کې فرق دادی چې په لومړی صورت کې څرنګه چې مرتدداما‌ل له ځان سره وړی وولهذاپه دي کې ميراث نه ووجاري شوی حال داچې په دوهم صورت کې چې کله مرتدلومړی له دي ځايه ولاړی نوقاضي دهغه دارالحرب ته دتللوحکم کړی وودکوم په وجه سره چې دهغه مال دوارثانوطرف ته منتقل شوی وولهذاوارثان دهغه مال مالکين دي اوپه مال غنيمت کې قاعده داده چې که پرهغه دکوم مسلمان سابقه ملک ثابت شي نوداما‌ل به دهغه وي .

(۱۷) إِنْ لَحِقَ فَقُضِيَ بِعَبْدِهِ لِابْنِهِ فَكَاتَبَهُ فَجَاءَ مُسْلِمًا فَالْمُكَاتَبَةُ وَالْوَلَاءُ لِلْمُرْتَدِّ (۱۸). فَإِنْ قَتَلَ مُرْتَدٌّ رَجُلًا خَطَأً وَلَحِقَ أَوْ قُتِلَ فَالدِّيَةُ فِي كَسْبِ الْإِسْلَامِ (۱۹) وَلَوِ ارْتَدَّ بَعْدَ الْقَطْعِ عَمْدًا وَمَاتَ مِنْهُ أَوْ لَحِقَ وَجَاءَ مُسْلِمًا فَمَاتَ مِنْهُ ضَمِنَ الْقَاطِعُ نِصْفَ الدِّيَةِ فِي مَالِهِ لِوَرَثَتِهِ (۲۰) وَإِنْ لَمْ يَلْحَقْ وَأَسْلَمَ وَمَاتَ ضَمِنَ الدِّيَةَ.

ترجمه: اوکه هغه دارالحرب ته ولاړی اوحکم وکړل شو دهغه دغلام دهغه دزوی لپاره نو هغه هغه مکاتب جوړکړبياهغه مسلمان شواوراغی نومال کتابت اوولاءبه دهغه دمورث لپاره وي ،اوکه مرتدڅوک خطاء قتل کړاودارالحرب ته ولاړی يااووژل شونوديت به دحالت اسلام له ګټې څخه اداء کيږي ،اوکه مرتد شوله عمدالاس پري کيدلوڅخه وروسته اوهغه له دي څخه مړشويادارالحرب ته ولاړی بيامسلمان شواوراغی بيادهغه په وجه سره مړشونوضامن ګرځي قاطع په خپل مال کې د... مرتدوارثانو لره،اوکه هغه دارالحرب ته نه ولاړی اومسلمان شومړشونوديت ضامن دی .

تشريح: (۱۷) که کوم کس په مرتدکيدلوسره دارالحرب ته ولاړی اودلته يې خپل يوغلام پريښود ددي ځای حاکم دهغه دتللوحکم وکړاودهغه له مال څخه يې داغلام دهغه زوی ته ورکړاودهغه زوی دغلام مکاتب

کړله دي څخه وروسته هغه مرتدېږي ته مسلمان شو او دارالاسلام ته راغلی نو اوس به ددي غلام دکتابت عوض دزوی پرځای مورث يعني پلارته ورکول کيږي او که غلام مړشونو دهغه ترکه به هم پلارته ورکول کيږي زوی ته به نه ورکول کيږي ولی چې دکتابت د باطلولو څوهيڅ وجه نشته ولی چې له زوی څخه ددي صدورپه ولايت شرعيه سره شوی دی نوموړي مرتدزوی دهغه له طرف څخه دوکيل په منزله کې وګرځاوو او په عقدکتابت کې حقوق دموکل طرف ته راجع کيږي نه دوکيل طرف ته لهذا غلام دموکل له طرف څخه ازادشوی دی په دي وجه به مال کتابت او ولاء دواړه موکل ته يعني پلارلره وي.

(۱۸)که مرتديوڅوک خطاء قتل کړيادارالحرب ته ولاړی يادارتدادپه حالت کې ووژل شونو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دمقتول ديت به خاص دقاتل له هغه مال څخه ورکول کيږي کوم چې هغه داسلام په حالت کې ګټلی دی ،او دصاحبينو په نزدبه دهغه له ټول مال څخه ورکول کيږي که يې داسلام په حالت کې ګټلی وي او که يې دارتدادپه حالت کې ګټلی وي ولی چې دداوړوحالتونو ګټي دهغه مال دي په دي وجه چې ددواړوحالتونوکې په دي مال کې دهغه تصرفات نافذدي لهذا ديت به له دواړوګټوڅخه ورکول کيږي ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادی چې دمرتداودهغه په خاندان کې څرنګه چې اوس نصرت ختم شوی دی لهذا ديت به دهغه له مال څخه ورکو ل کيږي اودهغه مال هغه دی کوم چې هغه داسلام په حالت کې ګټلی وي ولی چې دهغه تصرفات په هغه کې نافذدي دحالت ردت په مال کې دهغه تصرفات نافذنه بلکه موقوف دي .

ف: دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المختار: مرتد قتل رجلا خطاء فلحق او قتل فديته فی کسب الاسلام ان کان والا ففی کسب الردة: وقال العلامه ابن عابدين: (قوله فديته فی کسب الاسلام) هذا بناء علی رواية الحسن المصححة کماقدمناه من أن دين المرتد يقضی من کسب اسلامه الاان لايفی فمن کسب ردته کمايظهر من عبارة البحر وهذا خلاف مامشی عليه المصنف کغيره فی الدين (ردالمحتار: ۳\۳۴۴)

(۱۹)که کوم مسلمان دبل مسلمان لاس قصدا وربري کړاوهغه مقطوع مرتدشو بياهغه له هغه زخم څخه په دردت په حالت کې مړشو ،يامقطوع دارالحرب ته ولاړی او قاضی دهغه دتللو حکم هم صادر کړ بياهغه مرتد بيرته مسلمان شو او دارالاسلام ته راغلی اوله هغه زخم څخه اوس مړشو نو پرلاس پري کونکی باندي له خپل مال څخه دلاس دپريکولو په وجه سره نصف ديت دمقطوع وراثانو ته ورکول واجب دی ولی چې قطع يد په محل معصوم کې واقع شوي ده او دزخم سرايت په محل غيرمعصوم کې شوی دی لهذا دقطع اعتبار به کيږي او دسرايت اعتبار به نه کيږي په دي وجه صرف نصف ديت يعني دقطع يد ديت واجبيږي ،باقی خاص دقاطع په مال کې دديت دواجبيدلو وجه داده چې قطع يد عمدا شو ي ده او دعمد ديت پر عاقله نه وي .

(۲۰)او که مذکوره بالا مرتد دارالحرب ته نه ولاړی دلته په دارالاسلام کې يو څه وخت وروسته بيا مسلمان شو او په وروسته کې دهمدي قطع يد په وجه سره مړشو نو دشيخينو رحمهما الله په نزد پرلاس پري کونکی باندي دهغه پوره ديت واجبيږي،اودامام محمد رحمه الله او امام زفر رحمه الله په نزد په دي صورت کې هم پرقاطع نصف ديت واجبيږي.دشيخينو رحمهما الله دليل دادی چې دقاطع جنايت پر يو معصوم محل باندي

وارد شوی دی ولی چې په کوم وخت کې لاس پرېښو دادیو مسلمان لاس ووا و کله چې هغه له دي ځخه مرشو نوبیاهم هغه یو مسلمان وولهذا ددي جنایت تکمیل پرمحل محترم شوی دی لهذا پوره دیت واجبیږي . او دامام محمد رحمه الله او امام زفر رحمه الله دلیل دادی چې په منځ کې په مرتدوالی سره دسرایت زخم اعتبارپاتي نه شوپه دوهم ځل اسلام قبلولوسره سرایت په دوهم ځل معتبرولوسره بیرته نه راګرځي .

ف:دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی لماقال الشیخ عبدالحکیم الشهید رح: والمختار قول الشیخین رح وبه قالت الائمة الثلاثة وعلیه الفتوی قال شرح الملتقی وقول الشیخین رح ارجح لعصمته وقت السرایة کالقطع (هامش الهدایة: ۲\۵۸۲)

(۲۱) وَلَوِ ارْتَدَّ مُكَاتَبٌ وَلَحِقَ وَأُخِذَ بِمَالِهِ وَقُتِلَ فَمُكَاتَبَتُهُ لِمَوْلَاهُ وَمَا بَقِيَ لِوَرَثَتِهِ (۲۲) وَلَوِ ارْتَدَّ الزَّوْجَانِ وَلَحِقَا فَوَلَدَتْ وَوُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَظُهِرَ عَلَيْهِمْ فَالْوَلَدَانِ فَيْءٌ (۲۳) وَيُجْبَرُ الْوَلَدُ عَلَى الْإِسْلَامِ لَا وَلَدُ الْوَلَدِ (۲۴) وَارْتِدَادُ الصَّبِيِّ الْعَاقِلِ صَحِيحٌ كَإِسْلَامِهِ وَيُجْبَرُ عَلَيْهِ وَلَا يُقْتَلُ.

ترجمه:او که مکاتب مرتدشواودارالحرب ته ولاړی بیا ونیول شوله مال سره او قتل کړای شونوبدل کتابت به دهغه دمولی وي اوکوم چې باقی پاتي شي هغه به دهغه دوارثانو وي ،اوکه زوجین دواړه مرتد شول اودالحرب ته ولاړل هلته دهغوئ ماشوم وزیږیدا ودهغه ماشوم ماشوم وزیږید بیاپرهغوئ غلبه وموندل شوه نودواړه بچیان به غنیمت وي ،اومجبوره کیږي به بچی پراسلام نه لمسی ،اودعاقل نابالغ مرتدوالی صحیح دی لکه څرنګه چې دهغه اسلام راوړل او مجبوره کیږي به پراسلام او وژل کیږي به نه .

تشریح:(۲۱)که مکاتب غلام مرتد شو دارالحرب ته ولاړی او هلته یې یو څه مال وګټی بیاهغه له مال سره ونیول شو او په حالت ارتداد کې قتل کړای شو نو دهغه له مال ځخه به دهغه مولی ته بدل کتابت اداء کیږي او که نور مال پاته شو هغه به دمکاتب مسلمانو وارثانو ته ورکول کیږي ولی چې مکاتب دعقد کتابت په وجه سره دخپلې ګټې مالک ګرځي او کتابت لکه څرنګه چې دحقیقي مرګ په وجه سره نه باطلیږي همداشان دحکمي موت یعنی د ارتداد په وجه هم نه باطلیږي لهذا دهغه ګټه دهغه شمارل کیږي نو مولی ته دبدل کتابت له ورکولو وروسته پاتې مال به دهغه وراثانو ته ورکو ل کیږي .

(۲۲)که زوجین ددواړه مرتد شو ل بیادواړه دارالحرب ته ولاړل هلته ددوئ زوی پیداشو بیاهغه هلک غټ شو واده یې وکړ بیادهغه زوی پیداشو اوس مسلمانان پردي ملک غالب شول مور پلار او دا دواړه بچیان (زوی او لمسی)ګرفتار شول نو دادواړه بچیان غنیمت دي ولی چې مرتد ه ښځه دغنیمت کیدلو وروسته مینځه جوړیږي اوددي بچی په حریت او رقیت کې دمور تابع دی لهذا دابه هم غلام جوړیږي باقی پاته شو لمسی نودهغه مور خو چرنګه چې حربیه ده لهذاهغه دمال غنیمت کیدلوپه وجه مینځه جوړیږي نو دهغې زوی هم دمور داتباع له وجې غنیمت شو او غلام جوړیږي .

(۲۳)له مذکوره بالازوی اولمسی ځخه پرزوی داسلام قبولولپاره جبرکیږي مګر پرلمسی به جبر(زور)نه کیږي ولی چې زوی دمور اوپلار تابع دی نولکه څرنګه چې پرمور او پلار باندي داسلام لپاره جبر کیږي نو پر زوی به هم جبر کیږي پاتي شولمسی پرهغه به پ ـ ـ ـ ي و ښه جبرنه کیږي چې هغه دخپل پلارتابع نه شي جوړیدلای په دي وجه چې دهغه پلارپه خپله دخپل موراوپلار تابع دی اودتابع لپاره تابع نه وي .

(۲۴) که عاقل هلک (له عاقل څخه مراد دادی چې هغه داسلام حقانیت او دکفر بطلان پیژني) مرتد شو نو دهغه مرتدکیدل صحیح دی لکه څرنګه چې دهغه مسلمانیدل صحیح دي دارتداد دصحت مطلب دادی چې پرهغه به دمرتد احکام جاري کیږي دعاقل نابالغ اسلام په دي وجه صحیح دی چې حضرت علی ﷛ په ماشوم توب کې اسلام راوړی وواوحضور ﷺ دهغه اعتبارکړی ووپرکوم چې به حضرت علی ﷛ فخرهم کاوو او ردت یې په دي وجه صحیح دی چې حقیقة مو جود دی او حقیقت نشې رد کیدلای نو چې کله دهلک ردت معتبر دی نوهغه به پر اسلام راوړلو مجبور کیږي ولی چې په دي کې دهلک فائده ده مګر هغه به نه وژل کیږي ولی چې وژل سزا ده او کوچنیانو ته سزانه ورکول کیږي .

بَابُ الْبُغَاةِ

داباب دباغیانو په بیان کې دی

بغاة ،دباغ جمع ده په معنی د تعدی او ظلم کولو والا ،او په اصطلاح کې باغی هغه کس یاجماعت دی چې دامام عادل له اطاعت څخه دیو فاسد تأویل پر بناء خارج شي کوم چې خپل ځان دهغه فاسد تأویل په وجه سره په حق او امام په ناحقه بولي .

له باب المرتدین سره یې مناسبت دادی چې مرتد داسلام څخه په مخ ګرځولو سره راساًله الله تعالی څخه بغاوت کوي اوباغی دالله تعالی له نائب اوخلیفه یعنی مسلمان حاکم څخه بغاوت کوي له باب المرتدین څخه ددې باب دتأخیر وجه ظاهره ده .یاداسي ووایه کله چې مصنف ﷫ دجهادمع الکفارله تفصیل څخه فارغ شونو دجهادمع البغاة تفصیل یې شروع کړ.

(۱) خَرَجَ قَوْمٌ مُسْلِمُونَ عَنْ طَاعَةِ الإِمَامِ وَغَلَبُوا عَلَى بَلَدٍ دَعَاهُمْ إِلَيْهِ وَكَشَفَ شُبْهَتَهُمْ وَبَدَأَ بِقِتَالِهِمْ (۲) وَلَوْ لَهُمْ فِئَةٌ أُجْهِزَ عَلَى جَرِيحِهِمْ وَاتُّبِعَ مُوَلِّيهِمْ وَإِلَّا لَا (۳) وَلَمْ تُسْبَ ذُرِّيَّتُهُمْ وَحُبِسَ أَمْوَالُهُمْ حَتَّى يَتُوبُوا (۴) وَإِنْ احْتَاجَ قَاتَلَ بِسِلَاحِهِمْ وَخَيْلِهِمْ (۵) وَإِنْ قَتَلَ بَاغٍ مِثْلَهُ فَظُهِرَ عَلَيْهِمْ لَمْ يَجِبْ شَيْءٌ

ترجمه :ووتی دمسلمانانویو جماعت دامام له اطاعت څخه اوپریو ښار یاندي غالب شول نو امام دي هغوئ ته د اطاعت طرف ته دعوت ورکړي اودهغوئ شبه دي لیري کړي اوله هغوئ سره دي قتال شروع کړي ،اوکه دهغوئ کوم جماعت وي نو دهغوئ زخمیان دي قتل کړي او تعقیب دي کړي تښتیدونکي که نه نو نه ،اونه دي بندي کوي دهغوئ اولاد او منع دي کړي دهغوئ مالونو ترڅوچې هغوئ توبه وباسي ،اوکه ضرورت وونو جنګ دي کوي دهغوي په اسلحه اوآسانو ،اوکه قتل کړباغی دخپل ځان په شان بل باغی بیاپرهغوئ غلبه وموندل شوه نو هیڅ نه واجبیږي .

تشریح :(۱) که دمسلمانانو یو جماعت دامام یانائب امام له اطاعت څخه په خارجیدلو پریو ښار غلبه حاصله کړي نو استحبابا دي امام یادهغه نائب هغوئ ته دمسلمانانو دجماعت طرف ته دبیرته راتللو دعوت ورکړي او که دهغوئ کومه شبهه وه نو دهغوئ شبهه دي زائله کړي په دي وجه چې ممکن ده چې دهغوئ شر په دي سره دفع شي کوم چې له هغوئ سره دجنګ کولو په نسبت اسانه صورت دی . بیا نو که هغوئ توبه ګار نه شول نو امام دي له هغوئ سره د جنګ کولو ابتدا مو کړي ،لقوله تعالی ﴿فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ﴾

)يعنی قتال کوئ له هغې تولی. دمسلمانانوسره کومه چې بغاوت کوي ترڅوچې دالله تعالی حکم ته غاړه کېږدي)،همداراز په مهلت ورکولو سره هغوئ قوت پيدا کوي لهذا کيداى شي چې وروسته دي دهغوئ شردفع کول ممکن نه وي .

(۲)بیاکه ددي باغيانو يو بل مددګار جماعت هم وي کوموته چې دوئ پناه وروړي نو په جنګ کې چې ددوئ کوم زخميان دي هغه دي قتل کړي اودتښتيدونکوتعاقب دي وکړي ترڅوچې ددوئ شر دفع شي داسې نهچې دوئ له خپل جماعت سره يو ځای شي ،او که ددوئ کوم مددګار جماعت نه وي نو ددوئ زخميان دي نه قتلوي او نه دي دتيښتيدونکو تعاقب کوي ولی چې اوس ددوئ دقتلو لو ضرورت نشته ولی چې مقصود ددوئ دجماعت تفريق دی او هغه حاصل شو .

(۳)دهغوئ ماشومان او ښځې دي غلامان نه جوړ وي او نه دي هغوئ مال دغنيمت په ډول تقسيموي ولی چې داخلګ مسلمانان دي نو اسلام ددوئ د نفس او مال لپاره عاصم ،(ساتونکی) دی البته دشرددفع کولو په خاطر دي ددوئ اموال موقوف وساتي ترڅو چې دوئ له بغاوت څخه توبه ګار شي له توبې کولو وروسته دي بالاجماع ددوئ مالونه دوئ ته بيرته ورکړي.

(۴)په دې کې هيڅ مضائقه نشته چې مسلمانان دباغيانوپه اسلحه اواسانوسره له دوئ سره وجنګيږي په دي شرط چې دمسلمانانوضرورت پيداشي اوله مسلمانانوسره اسلحه نه وي ولی چې داسې کول خودضرورت پروخت دعادلانوپه مال کې هم جائزدی دباغيانوپه مال کې خوپه طريقه اولی سره جائزدي ،دامام شافعی رحمه الله په نزد جائز نه دی ولی چې دادمسلمان مال دی او دمسلمان پر مال بغير دهغه له رضامندی څخه نفع اخستل جائز نه ده .

(۵)که يو باغي دخپل ځان په شان بل باغي قتل کړ بيامسلمانان پرهغوئ غالب شول نو پرهغه قاتل باغي باندې هيڅ واجب نه دي يعنی نه به دهغه مقتول باغی قصاص له هغه څخه اخيستل کيږي او نه به له هغه څخه ديت اخيستل کيږي ولی چې دقتل کولو په وخت کې دامام المسلمين پر هغوئ ولايت حاصل نه دی لهذادا قتل دکوم شئ موجب نه جوړيږي .

(۶)وَإِنْ غَلَبُوا عَلٰى مِصْرٍ فَقَتَلَ مِصْرِيٌّ مِثْلَهُ فَظَهَرَ عَلَى الْمِصْرِ قُتِلَ بِهِ (۷)وَإِنْ قَتَلَ عَادِلٌ بَاغِيًا (۸)أَوْ قَتَلَهُ بَاغٍ وَقَالَ أَنَا عَلٰى حَقٍّ وَرِثَهُ وَإِنْ قَالَ أَنَا عَلٰى بَاطِلٍ لَا (۱۰)وَكُرِهَ بَيْعُ السِّلَاحِ مِنْ أَهْلِ الْفِتْنَةِ وَإِنْ لَمْ يَدْرِ أَنَّهُ مِنْهُمْ لَا

ترجمه:اوکه غالب شول هغوئ پرکوم ښاروالاوباندي بيادښاروالايوه بل يودښاروالاقتل کړبياپرښار غلبه حاصله شوه نوقتل کيږي دهغه په بدله کې ،اوکه قتل کړعادل باغی ياقتل کړباغی عادل اووي ويل چې زه پرحق يم نووارث دی اوکه يې وويل چې زه پرباطل يم نونه دی ،اومکروه ده اسلحه خرڅول په اهل فتنه باندي اوکه دامعلومه نه وه چې هغوئ له اهل فتنه څخه دي نومکروه نه ده .

تشريح:(۶)که پرکوم اسلامي ښار باندي باغيانو قبضه وکړه اوپه دي وخت کې دښارله خلکوڅخه يوه دخپل ځان په شان بل دښاروالاقتل کړترا وسه باغيانوخپل احکام نه ووجاري کړي چې مسلمانانودوهم ځل پردي ښارقبضه وکړه نوله دي قاتل څخه به دمقتول قصاص اخيستل کيږي ولی چې ده ناحقه قتل کړی دی

اوداوداامام المسلیمن ولایت تراوسه له دي ښارڅخه نه دی قطع شوی لهذاپردي ښاردامام المسلمین احکام جاري کیږي په دي وجه به له قاتل څخه قصاص اخیستل کیږي ،اوکه بغاة خپل احکام جاري کړي وونوبیابله قاتل څخه نه قصاص اخیستل کیږي اونه دیت .

(۷)که دوه خلک سره قریبان وو یو عادل یعنی داامام المسلمین فرمانبر داروو او دوهم باغي وو عادل باغي قتل کړنو هغه دمقتول وارث دی دقتل په وجه سره به له میراث څخه نه محرومیږي ولی عادل چې کله باغی قتل کړي یادهغه مال تلف کړي نونه ضامن دی اونه ګنهګاروولی چې عادل له باغیانوسره په قتال کولو مامور دی لقوله تعالی﴿ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ ﴾(یعنی قتال کوئ له هغې ټولی دمسلمانانوسره کومه چې بغاوت کوي ترڅوچې داالله تعالی حکم ته غاړه کښي.

(۸)که باغي عادل قتل کړ او دایې وویل چې زه دهغه په قتل کولو کې پرحق یم نو دا باغي دهغه مقتول وارث دی دقتل په وجه له میراث څخه نه محرمیږي ولی هغه په تاویل کولوسره وژلی دی که څه هم تاویل یې فاسددی ولی چې ددفع ضمان په حق کې تاویل فاسددتاویل صحیح په مرتبه کې دی په دي شرط چې فاسدتاویل کونکوته غلبه اوقوت حاصل وي کله چې دتاویل فاسدپه وجه سره ضمان واجب نه شونو په دي سره حرمان عن الارث هم نه ثابتیږي ،اوکه باغی وایې چې دقتل کولوپروخت زه پرباطل ومنوله میراث څخه محرومیږي ولی چې دی ګواکی داسي وایې چې ماخپل مورث ناحقه وژلی دی اودمورث ناحقه وژونکی وارث نه وي .

(۹)په اهل الفتنة والفساد(که باغي وي او که غل وي او که غیره)باندي اسلحه خرڅول مکروه دي ولی چې دااعانت علی المعصیت دی،وقال الله تعالی﴿ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ﴾او که دامعلومه نه وه چې اخیستونکی له مفسدینو څخه دی اوکه نه دی ،نو په دي وخت کې په هغه اسلحه خرڅول مکروه نه دي ولی چې ددارالاسلام په اکثره ښارونو کې اهل صلاح اوسیږي کوم یوشاذ او نادر مفسد وي او داحکامو بناءپر غالب ده په شاذ او نادر نه ده .

كِتَابُ اللَّقِيطِ

داکتاب دلقیط په بیان کې دی

لقیط په لغة کې دځمکې څخه راپورته کړل شوی شئ ته ویل کیږي ،دفعیل وزن دمفعول په معنی دی اوس په غورځول شوی ماشوم کې استعمالیږي ،دشریعت په اصطلاح کې لقیط هغه ژوندی ماشوم دی کوم چې خپل اهل دفقراومحتاجی له ویري یاله تهمت زناڅخه دځان ساتنی لپاره غورځولی وي له جهادسره یې مناسبت دادی چې جهاد مشروع لغیره دی یعنی دنیاله فساد څخه دخالي کولو لپاره مشروع شوی دی او، لقیط، او ،لقطة ،داحیاء نفس او مال لپاره مشروع دي قال الله تعالی﴿ وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا ﴾البته ،اول (یعنی جهاد)فرض دی او التقاط په ځینو صورتونو کې مندوب دی په دي وجه یې دلقیط بیان دجهاد له بیان څخه وروسته کړ،بیا د،لقیط،تعلق ځرنګه چې ژوندله حفاظت سره دی او د،لقطه ،تعلق دمال له حفاظت سره دی په دي وجه یې دلقیط ذکر تر لقطه مقدم کړ.

(١) نُدِبَ التِقَاطُهُ وَوَجَبَ إنْ خَافَ الضَيَاعَ (٢) وهو حُرٌ (٣) وَنَفَقَتُهُ فِي بَيْتِ المَالِ كَإِرْثِهِ وَجِنَايَتِهِ (٣) وَلَا يَأخُذُهُ مِنهُ أَحَدٌ (٥) وَيَثْبُتُ نَسَبُهُ مِن وَاحِدٍ وَمِن اثْنَيْنِ (٦) وَإنْ وَصَفَ أَحَدُهُمَا عَلَامَةً بِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ

ترجمه: مستحب دی دلقیط اوچتول او واجب دی که دضائع کیدلو ویره وي، او هغه ازاد دی، او دلقیط نفقه به له بیت المال څخه وي لکه دده میراث او جنایت، او نه دي وړي هغه له او چتونکي څخه هیڅوک هم، او دده نسب له یوه کس څخه هم ثابتیږي او له دوو څخه هم، او که کوم یوه کومه نښه بیان کړه نو هغه دده ډیر حقدار دی

تشریح: (١) لقیط یعنی لاوارث ماشوم که په داسي ځای کې ووچیرته چې دهغه دهلاکیدلو ویره نه وه نو دهغه اوچتول مستحب دی ولی چې په اوچتولو کې احیاء نفس ده، او که هغه په داسي ځای کې پروت ووچیرته چې دهغه دضائع کیدلو ویره وه نو بیا دهغه اوچتول واجب دي ولی چې په اوچتولو کې دهغه صیانت دی او له هغه څخه هلاکت دفع کول دي.

(٢) لقیط په ټولو احکامو کې حرشمارل کیږي ولی چې په بنی ادم کې اصل حریت دی همدارازپه دارالاسلام کې د موجود والی په وجه سره ازاددی ولی چې دارالاسلام دازادو کسانو ملک دی.

(٣) دلقیط خرڅ پربیت المال دی ولی چې لقیط مسلمان دی او له کسب کولو څخه عاجز دی نه مال لري او نه قرابت، دداسي کسانو نفقه پربیت المال وي، نو دلقیط نفقه دهغه دترکي په شان ده یعنی لکه څرنګه چې که لقیط مړشو نو دهغه ترکه بیت المال ته ځي همدشان به دهغه نفقه هم پربیت المال وي ولی چې الغنم بالغرم (یعنی ګټه دنقصان په اندازه وي)، همدشان که لقیط پرچاکوم جنایت وکړنو دهغه تاوان هم پربیت المال دی لماقلنا.

(۴) کوم چاچې لقیط اول اوچت کړ نو دلقیط دحفاظت حق دهغه دی او س کوم بل څوک له ده څخه لقیط نه شي وړلی ولی چې ده په اوچتولو کې سبقت کړی دی لهذا دحفاظت حق دهمده دی کوم بل چاله ده څخه دوړلو حق نشته الا داچې که دی په خپله اجازت ورکړي.

(۵) که چادعوه وکړه چې لقیط زمازوی دی نو دهغه قول معتبردی (په دې شرط چې ملتقط دلقیط دنسب دعوه ونه کړي) ولی چې دا دمدعی له طرف څخه داسي اقرار دی چې په هغه کې دماشوم ګټه ده ولی چې دثبوت نسب په وجه سره دماشوم شرافت لوړیږي، او همداشان که له دوو کسانو څخه هریوه دادعوه وکړه چې دازمازوی دی او له دوی دواړو څخه یوه هم شاهدان نه درلودل او نه لقیط دکوم یوه په قبضه کې وو نو په سبب کې دبرابروالی په وجه سره به ددواړو قول معتبروي یعنی له دواړو څخه دده نسب ثابتیږي.

(۶) او که له دوو کسانو څخه هریوه دلقیط په باره کې دادعوه وکړه چې دازمازوی دی او له هغوئ دواړو څخه یو ه دلقیط په بد ن کې کومه نښه بیان کړه نو دلقیط حقدار دنښي بیانولو والادی ولی چې ظاهر دهغه شاهد دی په دي وجه چې نښه دهغه دکلام موافق ده.

(٧) وَمِن ذِمِّيٍ وهو مُسلِمٌ (٨) إنْ لم يَكُنْ في مَكَانِ أَهلِ الذِمَّةِ (٩) وَمِن عَبدٍ وهو حُرٌ (١٠) وَلَا يُرَقُّ إلَّا بِبَيِّنَةٍ (١١) وَإنْ وُجِدَ مَعَهُ مَالٌ فَهُوَ لَه (١٢) وَلَا يَصِحُّ لِلمُلتَقِطِ عَلَيهِ نِكَاحٌ وَبَيعٌ (١٣) وَإجَارَةٌ (١۴) وَيُسَلِّمُهُ فِي حِرفَةٍ وَيَقبِضُ هِبَتَهُ

ترجمه: او (نسب يې ثابتيږي) له ذمي څخه هم او هغه مسلمان شمارل کيږي ،که هغه د ذميانو په محله کې نه وي ،او له غلام څخه هم او هغه به ازادوي ،او غلام به نه جوړيږي مگر له په بينه سره ،او که موندل شوله ده سره مال نو هغه دهغه دی ،او صحيح نه ده ملتقط لره دهغه نکاح کول او خرڅول ،او پر مزدوري ورکول ،او هغه دي په کوم کار ولگوي او دهغه هبه دي قبض کوي .

تشريح:(۷)قوله ومن ذمی ای ويثبت نسبه من ذمی ،يعنی که د مسلمانانو په يو ښار يا يوه کلي کې لقيط وموندل شو بيا ذمي کافر دعوی وکړه چې دا زما زوی دی نو دلقيط نسب له دي ذمی څخه ثابتيږي او په اتباع دار سره به استحسانا مسلمان شمارل کيږي ولی چې دذمی دعوی پر دوو خبرو مشتمله ده /نمبر۱. دلقيط لپاره ثبوت نسب . /نمبر۲.دلقيط نه مسلمان والی .په اوله خبره کې دماشوم فائده ده لهذا په دي باره کې دذمی دعوی صحيح وي او په دوهمه خبره کې دماشوم نقصان دی لهذا په دي باره کې دذمی دعوی صحيح نه ده .

(۸)که يې دذميانو په کلی کې يا ديهودو يا نصاری و په عبادت ځای کې ذمی لقيط وموندنو دالقيط ذمی شمارل کيږي ددي مسئلي څلور صورتونه دي،\نمبر۱،مسلمان دمسلمانانو په مکانو کې لقيط وموندی نو مسلمان شمارل کيږي، \نمبر۲،کافر دکافرانو په مکانو کې وموند نو کافر شمارل کيږي، \نمبر۳،کافر دمسلمانانو په ځايو کې وموند، \نمبر۴،مسلمان دکافرانو په ځايونو کې وموند په آخيري دوو صورتونو کې يو روايت دادی چې دمکان اعتبار به کيږي دوهم روايت دادی چې دموندونکی اعتبار به کيږي صحيح دادی چې دکوم په اعتبار کولو کې چې هغه مسلمان ثابتيږي هغه معتبر دی ولی چې دلقيط لپاره انفع دی .

(۹)قوله من عبد ای ويثبت نسبه من عبد اذاادّعاه ،يعنی که غلام دادعوه وکړه چې لقيط زما زوی دی نو دلقيط نسب له غلام څخه ثابتيږي ولی چې په ثبوت نسب کې دلقيط فائده ده مگر لقيط به آزادوي ولی چې کله حره ښځه دغلام لپاره بچی زيږوي نو بچی آزادوي او کله مينځه دغلام لپاره بچی زيږوي نو بچی غلام وي نو دلقيط په غلامي او حريت کې شک دی مگر په بني آدم کې اصل حريت دی لهذا دهغه حريت دشک په وجه سره نه باطليږي .

(۱۰)که يو چادعوه وکړه چې لقيط زما غلام دی نو دمدعی دا دعوي به نه قبليږي ترڅوچې هغه پردي شاهدان پيش نه کړي ولی چې ظاهر داده چې لقيط آزاد دی په دي وجه چې اصل په بني آدم کې حريت دی الا دا چې مدعی په دي خبره شاهدان پيش کړي چې لقيط دهغه غلام دی .

(۱۱)که له لقيط سره پر لقيط تړل شوی مال وموندل شو نو هغه مال دلقيط دی دظاهر په اعتبار کولو سره ،ولی چې املاک دمالک په قبضه کې وي او دا مال ددي لقيط په قبضه کې دی او لقيط دازادوالی په وجه سره اهل ملک هم دی لهذا دا مال دلقيط ملک دی .همدا شان که مال پر داسي څاروی تړلی وي –پر کوم چې لقيط وموندل شي نو هغه مال به هم دلقيط وي لما ذکرنا .

(۱۲)دملتقط (دلقيط موندونکی) لپاره جائز نه ده چې دلقيط نکاح وکړي ولی چې دنکاح کولو لپاره ولايت(ملک يا قرابت يا سلطنت)ضروري دی حال دا چې په ملتقط کې صفت ولايت معدوم دی،او

همداشان دملتقط لپاره دلقيط په مال کې تصرف کول مثلا دلقيط مال خرڅول جائز نه دی ولی چې دماشوم په مال کې له پلارا ونيکه ماسوا هيچالره دتصرف حق نشته،لکه مور چې دخپل زوی په مال کې تصرف نه شي کولای ولی چې د تصرف فی المال څخه غرض دمال اضافه والی دی او داپه کامله رأيه او وافر شفقت سره متحقق کيدای شي حال داچې په مور کې کامله رأيه او په ملتقط کې وافر شفقت نشته.

(۱۳)قوله واجارة ای لايصح اجارة اللقيط ،يعنی دملتقط لپاره په لقيط باندې مزدوري کول جائز نه ده ولی چې ملتقط دآکا په شان دی نو لکه څرنګه چې آکا ته داختيار نشته چې خپل وراره مزدوري وکړي همداشان ملتقط لره هم په لقيط مزدوري کول جائز نه ده .

(۱۴)او دملتقط لپاره جائز ده چې لقيط په صنعت ،هنر،زدکولو کې ولګوې ولی چې دا دلقيط دتاديب او حفاظت المال له باب څخه دی ،او که لقيط ته يو چاکوم شئ هبه کړ نو دملتقط لپاره داجائز ده چې دلقيط لپاره هغه قبض کړي ولی چې په دې کې دماشوم محض فائده ده .

كِتَابُ اللُّقَطَةِ

دا کتاب دلقطې په بيان کې دی

لقطه ،په لغت کې هغه شی دی چې ته يې په لار کې پيدا کړې او راپورته يې کړې ،او په شريعت کې هغه محترم او غير محفوظ حق دی چې موندونکی ته دهغه مستحق معلوم نه وي .

له ماقبل سره يې مناسبت دا دی چې لقيط او لقطه لفظا او معنی متقارب دي ولی چې دواړه له التقاط په معنی درفع څخه مشتق دي .بيا لقيط په بنی ادم او ،لقطه،په غيربنی ادم پورې خاص دي نودبنی ادم داظهار شرافت لپاره يې دلقيط بيان له لقطې څخه مقدم کړ.

(۱)لُقَطَةُ الْحِلِّ وَالْحَرَمِ أَمَانَةٌ إِنْ أَخَذَهَا لِيَرُدَّهَا عَلٰى رَبِّهَا وَأَشْهَدَ (۲)وَعَرَّفَ إِلٰى أَنْ عَلِمَ أَنَّ رَبَّهَا لَا يَطْلُبُهَا (۳)ثُمَّ تَصَدَّقَ (۴)فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا نَفَّذَهُ أَوْ ضَمَّنَ الْمُلْتَقِطَ (۵)وَصَحَّ الْتِقَاطُ الْبَهِيمَةِ (۶)وَهُوَ مُتَبَرِّعٌ فِي الْإِنْفَاقِ عَلَى اللَّقِيطِ وَاللُّقَطَةِ وَبِإِذْنِ الْقَاضِيْ يَكُوْنُ دَيْنًا.

ترجمه:دحل او حرم لقطه أمانت ده که اوچته کړه ترڅو خپل مالک ته يې ورکړي او پرهغې يې ګواه جوړ کړل.او اعلان دې کوي ترڅو چې يقين شي چې ددې مالک ددې تلاش نه کوي ،بيا دهغه صدقه کړي، بياکه راشي دهغې مالک نو هغه دې نافذه کړي يا دې ضامن کړي اوچتونکی،او صحيح ده د څاروی نيول،او هغه متبرع دی په لقيط او لقطه په مصرف کولو کې او دقاضی په اجازت سره به قرض وي.

تشريح:(۱)لقطه که دحرم وي او که له حرم څخه دباندې دکوم ځای وي له ملتقط سره امانت ده په دې شرط که ملتقط دحفاظت په نيت سره اوچته کړي وي ولی چې په دې نيت سره دا اوچتولو شرعاً اجازت شته لهذا دضائع کيدلو په صورت کې به ملتقط ضامن نه وي ،او ملتقط دې پردې ګواه جوړ کړي چې زه دا دمالک لپاره دحفاظت په نيت سره اوچتوم ولی چې دنبی کريم ﷺ ارشاد مبارک دی چې کوم کس چې لقطه ومونده دې پرهغې دوه عادل ګواه جوړ کړي .

(۲) دملتقط پرذمه واجب ده چې دی به دلقطي دومره تشهيركوي چې دده غالب گمان شي چې اوس مالک ددي تلاش نه کوي بيادتشهيرپه مدت کې روايات مختلف دي امام محمد رحمه الله له امام څخه نقل کړي دي چې که چاته کومه لقطه په لاس ورغله چې دهغې ماليت (قيمت)له لسودرهموڅخه کم وي نوترېوڅوورڅوپوري دي دهغې تشهيروکړي ،اوکه لقطه داسي شئ وي چې دهغه ماليت لس درهمه يا له دي څخه زيات وي نوترېوه کال پوري دي تشهيروکړي ،مگرصحيح قول دادی چې دتشهيرکوم مدت متعين نه دی بلکه دومره تشهيردي وکړي چې دملتقط غالب گمان شي چې اوس يې مالک تلاش نه کوي ولی چې نبی کريم ﷺ يوکس ته دسلودينارو په باره کې ترديري کلونوپوري دتشهيرکولوحکم فرمايلې وو لهذاتريوه کال پوري تشهيرمتعين نه دی.

(۳) که له تشهير څخه وروسته دلقطي مالک راغی اودلقطي په ملکيت يې گواه پيښ کړل نوملتقط ي لقطه هغه ته وسپاري ترڅوحقدارته خپل حق ورسيږي ،ليکن که مال نه راغی نوملتقط دي لقطه پهرفقيرانوصدقه کړي ترڅومالک ته دلقطي عوض يعنی ثواب ورسيږي اوکه يې خوښه وي نوپه دي اميدچې مالک راځي له خپل ځان سره دي کښيږدي.

(۴) که له صدقه کولو وروسته مالک راشي نومالک لره اختيار دی که يې خوښه وي نوصدقه دي برقراروساتي ثواب دي وگټي ولی چې دملتقط له طرف څخه تصدق که څه هم شريعت په اجازه سره دی مگردمالک په اجازت سره نه دی لهذادمالک تراجازي پوري به موقوف وي ،اوکه يې خوښه شوه نوله ملتقط څخه دي ضمان وصول کړي ولی چې ملتقط دصاحب لقطي له اجازت څخه بغيرده مال بل چاته ورکړی دی.

ف: که چاته ورک شوی شئ په لاس ورشي اوهغه داسي حقيرشئ وي چې مالک خپله دهغه تلاش نه کوي مثلا يوه خورما يايوه روپۍ وي يايوپياز يادانگور دانه وي،اودده خيال داوي چې دادالله تعالی نعمت دی بې ځايه ضائع کيږي ،نوهغه دي راواخلي چاته دي ورکړي يادي خپله استعمال کړي ...... ﴿لحديث جابر رضي الله عنه قال رَخَّصَ رسول الله ﷺ في الْعَصَا وَالسَّوْطِ وَالْحَبْلِ وَأَشْبَاهِهِ يَلْتَقِطُهُ الرَّجُلُ يَنْتَفِعُ بِهِ﴾ اخرجه ابوداؤد واحمد. (جديد معاملات کی شرعی احکام.۱۲\۱۱۰)

ف: که څوک ساعت جوړونکی وي ياکاريگر يادوبي (دجامووينځونکی) ياخياط ياکوم بل داسي کس کوم چې دخلگو د مختلفوشيانومرمت کوي،خلک خپل پخواني شيان دجوړولو لپاره ورته پريږدي يادپريمنځلولپاره جامي ورکوي،له دي څخه وروسته بيرته نه راځي نوپه داسي صورت کې که دمالکانوله راتلو څخه مايوس شي اوپه نور پريښودلوکې د خرابيدلوخطره وي نوداساعتونه ياجامي دصدقه کړي په خپله استعمالول يې جائزنه دی .(جديد معاملات کی شرعی احکام:۱۲\۱۱۲)

(۵) که چاته څاروی مثلا ،اوه ،غوا،يااوښ ،وغيره دلقطي په ډول سره په لاس ورشي نوکه دهغو دضائع کيدلوويره وي مثلاپه ښارکې غله ياپه ځنگل کې ځناوروي نوملتقط لره ددي څارويو دحفاظت په نيت سره نيول جائزدی ولی چې په دې زمانه کې په پريښودلوکې غالب گمان دادی چې ضائع کيږي.

(۶)بياکه ملتقط دحاکم له اجازې بغير پر لقيط يالقطه خرچه وکړه نوداد ملتقط له طرفه تبرع او احسان دی له مالک څخه ددي مطالبه اوغوښتنه نشي کولای ولی دصاحب لقطه پرمال دملتقط ولايت قاصردی ،او که ملتقط دحاکم په اجازه سره پر لقطه باندي خرچه وکړه نو بياد ادلقطي دمالک پرذمه قرض دی ولی چې دغائب (صاحب اللقطه)پرمال دغائب دفائدي لپاره قاضي ته ولايت حاصل دی.

(۷)وَلَوْ كَانَ لَهَا نَفْعٌ آجَرَهَا وَأَنْفَقَ عَلَيْهَا مِنْ أُجْرَتِهَا (۸)وَإِلَّا بَاعَهَا (۹)وَمَنَعَهَا مِنْ رَبِّهَا حَتَّى يَأْخُذَ النَّفَقَةَ (۱۰)وَلَا يَدْفَعُهَا إلَى مُدَّعِيهَا بِلَا بَيِّنَةٍ (۱۱)فَإِنْ بَيَّنَ عَلَامَتَهَا حَلَّ لَهُ الدَّفْعُ بِلَا جَبْرٍ (۱۲)وَيَنْتَفِعُ بِهَا لَوْ فَقِيرًا وَإِلَّا تَصَدَّقَ عَلَى أَجْنَبِيٍّ وَصَحَّ عَلَى أَبَوَيْهِ وَزَوْجِهِ وَوَلَدِهِ لَوْ فُقَرَاءَ.

ترجمه:که لقطه دنفع شئ وو نو په اجاره دي ورکړي او له اجرت څخه دي پرلقطه مصرف کوي ،که نه نو بيادي خرڅ کړي، او هغه دي منع کړي له مالک څخه ترڅو چې ويسي له هغه څخه نفقه ،اونه دي ورکوي لقطه دهغې دعوی کونکی لره بغيرله بينّه ،نوکه هغه بيان کړه دهغې نښه نوورکول جائزدی مګرجبرنشته ،اوله دي څخه دي خپله نفع حاصلوي که فقيروي که نه نو پرکوم اجنبی دي صدقه کړي اوپرخپل موراوپلاراوپرخپله ښځه اوپرخپل زوی باندي که داکسان فقيران وي.

تشريح:(۷)که لقطه داسي شئ وو چې دهغه منافع وي مثلاکوم داسي څاروی وو چې په مزدوري ورکول کيدای شو نوملتقط دي هغه قاضي ته وړاندي کړي ترڅوقاضی دهغه کيدلوپه باره کې فرمان جاري کړي اوقاضی هغه په کرايه ورکړي اوله هغې کرايې څخه حاصل شوي روپۍ دي پرلقطه مصرف کړي ولی چې په دي کې دمالک مال دهغه پرملکيت بغيردقرض له لزوم څخه باقي پاتي کيږي.

(۸)قوله والا باعها ای وان لم يکن لهانفع باعها.يعنی که دهغه څاروی .منافع نه وي نو که داويره وه چې پرهغه خرڅه کول دهغه اصل قيمت لاندي کوي (يعنی ترقيمت زيات مصرف پري کيږي)نوقاضی دهغه خرڅ کړي او ملتقط ته دي دهغه دقيمت دمحفوظ ساتلو حکم وکړي ترڅولقطه په معنوي لحاظ سره باقي پاتي شي.

(۹)که ملتقط دقاضي په حکم سره پر لقطه باندي خرچه وکړه اوس دلقطي مالک حاضرشو اولقط يې طلب کړه نوملتقط لره جائزده چې له مالک څخه لقطه منع کړي ترهغه وخت پوري چې هغه ملتقط ته خرڅه ادا ، نه کړي کومه چې ده پرلقطه مصرف کړي ده ولی چې دملتقط له طرف څخه پرلقطه مصرف شوي نفقه دلقطي دمالک پرذمه دين ده په دي وجه دهغې په عوض کې دلقطي له مالک څخه دلقطي دمنع کولوحق ده لره حاصل دی.

(۱۰)که يوڅوک ملتقط ته حاضرشو او دادعوه يې وکړه چې داالقطه زماده نو ترڅوچې هغه شاهدان حاضرنه کړي ملتقط دي لقطه هغه ته نه ورکوي ، ﴿لقوله ﷺ البَيِّنَةُ عَلَى المُدَّعِي﴾(يعنی شاهدان دمدعی پر ذمه دي)نودنوردعوو په شان دملک لقطه ددعوي لپاره هم بيّنه لازمي ده.

(۱۱)اوکه دي مدعی دلقطي کومه نښه وښودله (مثلالقطه دراهم دي مدعی دهغووزن ياعددوغيره بيان کړ)مګربينه يې پيښ نه کړه نوملتقط لره جائزده چې لقطه هغه ته وسپاري ولی چې دنښي په ښودلوسره ظاهره همداده چې لقطه دهغه ده، ليکن که مدعی دلقطي نښه وښودله مګربياهم ملتقط دلقطي له ورکولوڅخه انکاروکړنوقضاء به ملتقط دلقطي په ورکولونه مجبوره کيږي ولی چې کله غيرمالک دشئ

دنښي په معلوموولوسره نښي بيانوي لهذا انښه شودل دملک دليل نه دی په دي وجه به ملتقط نه مجبورکيږي.

(۱۲)که ملتقط په خپله فقيروو نو هغه لره له تشهير څخه وروسته له لقطي څخه نفع اخيستل جائز ده ولی چې په دي کې دجانبينورعايت دی يعنی ملتقط لره انتفاع اومالک لره ثواب دی .او که ملتقط په خپله غني وي نو بيادي هغه پر اجنبي صدقه کړي﴿لقوله ﷺ فان لم يات صاحبها فليتصدق به﴾(که دلقطي مالک نه راغی بيادي هغه صدقه کړي)او همداشان که دهغه پلار ،زوی او ښځه فقيران وي نوملتقط لره دا جائز ده چې لقطه پر هغو صدقه کړي ولی چې دفقير کيدلوپه وجه سره هغوئ دصدقي محل دي همداشان په دي کې دجانبينورعايت هم دی.

ف:که دکوم کس په مسجدکې چمپلي يابوټونووغيره بدل شول ياپه طياره يابس کې يې بيګ وغيره بدل شول په غلطي سره دکوم بل چابيګ په لاس ورغی نوايادهغه استعمالول جائزدی اوکه يا؟ددي شرعی حکم دادی چې ددي استعمال جائزنه دی ولی چې اولاًکه داسي وه هم شي نودايقين نشته چې چاچې بوټونه وړي دي دابوټونه دهغه دي ياکوم چاچې بيګ وړی دی تاته په لاس درغلی بيګ دهغه دی اوکه داسي هم وي نوهم څرنګه چې ددوئ ترمنځ کومه دمبادلي معامله نه ده شوي ،په دي وجه کوم بوټ ياجامه چې په لاس درغلي ده دهغې حکم دلقطي دی ،يعنی اول به داکوښښ کيږي چې دهغې مالک پيداشي اوهغه ته بيرته ورکړل شي ،اوکه دمالک له پيداکيدلوڅخه مايوس شي نودمالک له طرفه دي صدقه کړي ،هوالبته دمالک له پيداکيدلوڅخه دمايوسي په صورت کې که داکس په خپله مستحق زکوة وي نوهغه په خپله هم استعمالولی شي کمافی الهندية:امراة وضعت ملائتها فجاءت امراة اخرى وضعت ملائها ثم جاءت الاولى واخذت ملاة الثانية وذهبت لايسع للثانية ان ينتفع ملاتها والحيلة ان يتصدق الثانية بهذه الملاة على بنتها ان كانت فقيرة على نية ان يكون الثواب لصاحبها ان رضيت لم تهب البنت الملاة منها فيسعها الانتفاع بها كاللقطة وكذا الوسرق مكعبا وترك عوضا (ماخوذازامدادالمفتيين بتغيير:ص ٨٧٦)

كِتَابُ الآبِقِ

دا کتاب دآبق په بيان کې دی

آبق:له اباق څخه دی د،اباق،لغوي معنی تښتيدل ده .دفقهاؤ په اصطلاح کې ،آبق،هغه غلام دی کوم چې له خپل مالک څخه قصداً وتښتي ،ثعالبي رحمه الله فرمايي آبق هغه (غلام)دی چې دمولی له ظلم بغير وتښتي اوکه دمولی دظلم وجه سره وتښتي نوهغه ته آبق نه بلکه هارب وي کيږي همدا وجه ده چې اباق عيب دی او هرب عيب نه دی.

د، کتاب الآبق ،له ماقبل سره مناسبت دادی چې په التقاط،او ،اباق،دواړوکې دمال علی عرض الزوال وروسته دوهم ځل احیاء ده ،البته په لقطه کې دزوال ذات په اعتبار سره ده ،او په اباق کې دمالک دانتفاع په اعتبار سره ده او ذات له انتفاع څخه مقدم دی په دې وجه یې دلقطه احکام وړاندې ذکر کړل.

(۱)أخذهٔ أحبُّ إن قوِيَ علیه (۲)وَمَنْ رَدَّهُ من مدّةِ سفرٍ وهو عبيدٌ فَلَلأُلأَبام فَلَهٔ أربعون درهمًا (۳)وَلَوْ قيمتهٔ أقلّ منه (۴)وَإن رَدَّهُ لِأقلّ منها فبحسابِهِ (۵)وَأمُّ الوَلدِ وَالْمدَبَّرُ كالقِنِّ (٦)وَإن أبَق من الرَّادِ لَا يَضْمنُ (٧)وَيَشْهدُ أنهٔ أخذهٔ لِيَرُدَّهُ (٨)وَجعلُ الرَّهْنِ على المُرتَهِنِ (٩)وَأمْرُ نفقتِهِ كَاللُّقَطَةِ

ترجمه:دتښتېدلي غلام نیول افضل دي که یې پرهغه قدرت وو ،او چاچې رد کړهغه له مدت سفرڅخه نوهغه لره به څلوېښت درهمه وي ،که څه هم دغلام قیمت له دې څخه لږوي،او څوک چې هغه وارد کړي له کمې فاصلې څخه نو په همدې حساب سره به وي ،اومدبراوم ولد دخالص غلام په شان دي ،او که له راوستونکي څخه هغه وتښتېدی نو هغه ضامن نه دی، او ګواه دې جوړکړي چې زه دانیسم ددولو لپاره ،اودرهن اجرت پرمرتهن دی ،او دهغه دنفقې حکم دلقطې په شان دی.

تشریح:(۱)دچادتښتېدلي غلام دهغه لپاره نیول مستحب دی په دې شرط چې دنیولو والا دهغه پرنیولو او مالک ته په بیرته راوستلو باندې قادروي ولی چې دغلام تښتېدل داسې دي لکه غلام چې مړشي نو نیول او بیرته راوستل یو قسم دمولی دحق ژوندی کول دي ،که دنیولو والاقدرت نه درلود نو بیا دتښتېدلي غلام نیول هم مستحب نه دی .

(۲)که چا ترمسافت سفریعنی دري ورځې یازیات ترمسافت سفر تښتېدلی غلام دهغه مولا ته راوستی نو پر مالک باندې دراوستونکي اجرت څلوېښت درهمه دی داحکم استحساناً دی ، ،دقیاس تقاضا داده چې دې کس ته هیڅ ورنه کړي ولی چې دادسې دی لکه چې څوک داسې غلام مولی ته راولي له کوم څخه چې لاره ورکه شوي وي نوراوستونکی لره هیڅ نشته نوپه کاروه چې دتښتېدلي غلام دراوستلوپه صورت کې هم هیڅ واجب نه وای .داستحسان وجه داده چې دتښتېدلي غلام راوستونکی لره دڅه په ورکولو دصحابه کرامو ﷺ اجماع ده البته په مقدارکې ددوئ په منځ کې اختلاف دی ځینو څلوېښت درهمه واجب کړي دي اوځینوله دې څخه لږ،نوموړداسې تطبیق وکړچې که یې له مسافت سفرڅخه روالتی نو څلوېښت درهمه واجب دي او که یې له کم مسافت څخه روالتی نوپه همدې حساب سره به واجبېږي .

(۳)قوله ولو قیمته اقل منه ای یجب اربعون درهما ولو کانت قیمته اقل من اربعین .یعنی دمسافت سفر څخه دراوستونکي لپاره انعام څلوېښت درهمه دي که څه هم دهغه قیمت له څلوېښتو دراهمو څخه لږ وي یعنی که چا تښتېدلی غلام له مسافت سفر څخه دهغه مولا ته راوستی مګر دغلام قیمت تر څلوېښتو دراهمو لږدي (مثلا دغلام قیمت یودیرش۳۱درهمه دی)نوهم دراوستلو والا جعل څلوېښت درهمه دی (جعل هغه مقرر حق دی کوم چې دغلام راوستونکي لپاره دهغه پر مولا شرعاًواجب دی)ولی چې حضرت عمرو ابن دینار ﷺ فرمایي چې زموږ یې له وخته اورو چې حضور ﷺ انعام څلوېښت درهمه مقرر کړی دی نو دغلام دقیمت دکموالي په وجه سره به موږ انعام نه کمه وو لکه په صدقه فطر کې که دغلام قیمت تر صدقه فطرکم وو نو صدقه فطر نه کمیږي ،اود امام محمد رحمه الله په نزد به له ټول قیمت څخه یو درهم کم کړي باقي پاته

(ديرش ۳۰ درهمه)به راوستونكي ته په اجرت كې وركړې ولې چې له اجرت وركولو څخه مقصد دادى چې دتښتيدونكو غلامانو په بيرته راوستلو خلك باعث كړاى شي ترڅو داصل مالك مال محفوظ پاته شي نو په مذكوره بالا صورت كې دي دغلام له قيمت څخه يو درهم كم كړې ترڅو مالك ته هم څه فائده ورسيږي.

(۴)او كه له دروز ورځو څخه له كم مسافت څخه يې راوستى نو اجرت به هم دي حساب سره وي لمابينا ،نودده ورځوله مسافت څخه دراوستونكى لپاره به اجرت دڅلويښتو دراهمو دوه ثلثه وي او ديوي ورځي له مسافت څخه راوستونكى لره به يو ثلث وي.

(۵)مدبر او ام ولده هم دغلام په حكم كې دي يعنى دهغوئ راوستونكى هم دمزدوري مستحق دى لكه څرنګه چې دغلام راوستونكى دمزدورى مستحق دى ولى چې مدبر اوام ولده هم دغلام په شان دخپل مولى مملوك دي لهذا دهغوئ په بيرته راوستلو كې دمولى دملك احياء ده.

(۶)كه دغلام له راوستونكي څخه غلام وتښتيدى نو پر راوستونكي هيڅ تاوان نه واجبيږي ولې چې غلام دهغه په لاس كې أمانت دى اوأمانت كه له تعدى اوظلم څخه بغيرتلف شي نو پرهغه ضمان نه واجبيږي ،اودهغه لپاره به اوس اجرت هم نه وي ولى چې غلام دده په لاس كې داسې دى لكه څرنګه چې مبيع دبائع په لاس كې وي لهذا ترڅو چې غلام مالك ته ونه سپاري د اجرت مستحق نه دى.

(۷)دتښتيدلي غلام دنيولو والاته په كاره ده چې دغلام دنيولو په وخت كې څوك پردې خبره ګواه جوړكړي چې زمادنيولومقصددى ترمالك پوري رسول دى ،دطرفينو رحمهماالله په نزد دغلام پر راوستونكې ګواه جوړول واجب دي او كه يې څوك ګواه نه كړل نو د اجرت مستحق نه دى ولى چې به دي صورت كې داګمان كيږي چې ده دي دخپل ځان لپاره نيولى وي.

(۸)كه تښتيدلى غلام اصل مالك يو چاته بطور رهن وركړى وو او هغه ،غلام،له مرتهن څخه وتښتيدى نو دغلام راوستونكي اجرت د مرتهن پر ذمه دى (په دې شرط چې ټول غلام مضمون وې يعنى دغلام قيمت دپور په اندازه وي)ولې چې دمرهون غلام مرتهن ته په بيرته راوستلو كې دمرتهن دقرض احياء ده لهذا اجرت به يې هم دمرتهن په ذمه لازم وي.

(۹)دتښتيدلي غلام دنفقه حكم دلقطه دحكم په شان دى يعنى دهغه پر خوړلو وغيره چې كومه خرچه شوئ وي په هغه كې هغه تفصيل دى كوم چې پر لقطه باندې دخرچه كولو په بيان كې تيرشو چې كه يې دقاضي په حكم سره خرچه كړي وه نو له مالك څخه به يې وري او كه يې دقاضي له حكم څخه بغيرخرچه كړې وه نو دهغه دوصول كولو حق نه لري ،ولى چې آبق هم په حقيقت كې لقطه ده.

كتاب المفقود

داكتاب دمفقود داحكامو په بيان كې دى

مفقود ،په لغت كې ورک شوى ته ويل كيږي ،اوشرعاً هغه غائب كس دى دكوم په باره كې چې معلومه نه وي چې ژوندى دي چې دراتلو انتظاريې وشي اوكه مړشوى دى.له ماقبل سره يې مناسبت دادى چې ، لقيط

،لقطه ،آبق،او مفقود ،هريو په غائب اونامعلوم والی کې برابرحيثيت لري په همدې مناسبت يې د آبق داحکامو له ذکرکولو څخه وروسته دمفقود احکام ذکرکړي دي .

(۱)هو غائب لم يدر موضعه و حياته و موته (۲) فينصب القاضي من يأخذ حقه و يحفظ ماله و يقوم عليه (۳) و ينفق منه على قريبه ولادا و زوجته (۴) و لا يفرق بينه و بينها (۵) و حكم بموته بعد تسعين سنة و تعتد امرأته (۶) و يرث منه حينئذ لا قبله و لا يرث من أحد مات.

ترجمه:مفقود هغه غائب دی دکوم چې ځای اوژوند اومرګ معلوم نه وي ،اومقرردي کړي قاضي کوم کس چې هغه وصول کړي دهغه حق او حفاظت وکړي دهغه دمال او څارنه يې وکړي ،اومصرف کړي دهغه له مال څخه دهغه دقرابت ولادت پرقريبانو اودهغه پرښځي ،اوتفريق دې نه کوي دهغه او دهغه دښځي په منځ کې ،اوحکم دې وکړي دهغه دمرګ له نيوي کلونو څخه وروسته اوعدت دې تيرکړي دهغه ښځه ،اوميراث دې تقسيم کړای شي دهغه په دې وخت کې نه له دې څخه وړاندې اوهغه وارث نه دی دهيچا.

تشريح :(۱)مصنف رحمه الله په خپل دې عبارت سره دمفقودتعريف کړی دی چې مفقودهغه غائب کس دی دکوم چې داوسيدلو ځای معلوم نه وي اونه دهغه ژونداومرګ معلوم وي .

(۲)کله چې کوم کس داسې ورک شي چې دهغه داوسيدلو ځای معلوم نه وي ترڅودهغه تلاش وشي اونه دامعلومه وي چې هغه ژوندی دی اوکه مړشوی دی نواوس به قاضي يوداسې کس مقررکړي کوم چې دغائب دمال حفاظت اوڅارنه وکړي اودغائب حقوق (که پرخلګووي)وصول کړي ولی چې قاضي به دهرداسې کس لپاره څارونکی مقررکوي کوم چې دخپل ذاتي امورو له څارولو څخه عاجزوي اوغائب همداشان دی چې دخپلو ذاتي امورو څارنه نه شي کولی .

(۳)قاضي به دمفقود له مال څخه دمفقود پرښځي او دهغه پرهغوقريبانوباندې خرڅ کوي دکوموچې له مفقودسره د ولادت قرابت وي يعنی دهغه پراصولو اوفروعو به يې مصرف کوي په دې باره کې قاعده داده چې کوم کسان چې د مفقود دحضورپه وخت کې بغير دقاضي له حکمه دمفقودپه مال کې دنفقې حقداروي هغوئ ټولو ته به دمفقودغائب کيدلو په صورت کې هم دمفقود له مال څخه نفقه ورکول کيږي ولی چې په دې وخت کې دقاضي قضاء صرف تعاون شمارل کيږي قضاء على الغائب نه شمارل کيږي،او کوم کسان چې دمفقود دحضور په وخت کې بغير دقاضي له حکمه دنفقې حقدارنه وي نو دمفقود غائب کيدلو په صورت کې به دې کسانوته دقاضي په حکم سره دمفقودله مال څخه نفقه نه شي ورکول کيدلای ولی چې په دې وخت کې دنفقې وجوب دقاضي په قضاء سره ثابتيږي حال داچې قضاء على الغائب جائزنه ده .

الالغاز :اي رجل يعد ميتا و هو حي ينعم؟

فقل :المفقود لان له فيما يرجع الى ماله حكم الحياة و فيما يعود الى غيره حكم الممات ,ويمكن ان يجاب بانه الكافر لانه يعد من جملة الاموات بدليل قوله تعالى (كيف تكفرون بالله و كنتم امواتا فاحياكم)يعني كنتم كفارا فهداكم الى الايمان .(الاشباه والنظائر)

(۴)قاضي به دمفقود اودهغه دښځي ترمنځ تفريق نه کوي ،امام مالک رحمه الله فرمايي چې کله دمفقودله غائب کيدلو څخه وروسته څلورکاله تيرشي نو قاضي دمفقوداودهغه دښځي ترمنځ تفريق کولی شي له تفريق کولو څخه وروسته د وفات دعدې په تيرولو سره چې څيرته وغواړي نکاح کولی شي دامام

مالک رحمه الله دليل دادی چې په مدينه منوره کې يو کس پيريانو وړی وو نو حضرت عمر رضي الله عنه دهغه او دهغه دښځې ترمنځ له څلورو کلو تيريدلو وروسته تفريق کړی وو .

داحنافو رحمهم الله دليل دادی چې حضور ﷺ فرمايلي دي ،چې دمفقود ښځه دهغه زوجه ده ترڅوچې دي ته (دمفقود له طرف څخه دهغه دمرگ)خبر شي ،او حضرت علي رضي الله عنه دمفقود دښځې په باره کې فرمايلي دي ،هي امرأة ابتليت فلتصبر حتى يستبين موت او طلاق،(هغه دهغه ښځه ده مبتلی کړل شوې ده نو هغې ته صبرکول په کاردی ترڅو چې دخاوند مرگ معلوم شي يادطلاق خبر وروسيږي)،داامام مالک رحمه الله ددليل ځواب دادی چې له حضرت عمر رضي الله عنه څخه دحضرت علي رضي الله عنه دقول طرف ته رجوع ثابته ده لهذا دحضرت عمر رضي الله عنه په قول سره استدلال کول صحيح نه دی .

(۵)کله چې دمفقود دولادت له ورځې څخه نيوي کاله پوره شي نو قاضي به دهغه دمرگ حکم وکړي او حسن ابن زياد رحمه الله له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه نقل کړی دی چې کله ديوم ولادت څخه،يو سل شپيته ،۱۶۰،کاله پوره شي نوموړی به دمفقود دمرگ حکم ورکوو ،ظاهر مذهب دادی چې دمفقود دهمزولو له مرگ څخه به اندازه کيږي چې مفقودهم اوس مړشوی دی ،له امام ابويوسف رحمه الله څخه دسلو کالو ميعاد مروی دی ،متأخرينو علماؤ دتکليف دفع کولو او پرخلکو دآسانتياله پاره شپيته کاله مدت مقرر کړی دی ،په هر حال چې کله دمفقود دمرگ حکم وکړل شي نو دهغه پر ښځې له هغه وخت څخه دوفات عده تيرول واجب ده اوپه همدې وخت کې چې دمفقودکوم وارثان موجودوي دمفقودمال به پرهغوئ تقسيميږي،دمفقودکوم وارثان چې پرمفقوددمرگ له حکم کولو څخه وړاندي مړه شوي دي هغه به دمفقودپه وراثانوکې نه شمارل کيږي ولی چې له حکم بالموت څخه وړاندي مفقودژوندی شمارل کيږي.

ف:څرنګه چې عملاًدمفقودالخبر ښځه ټول ژوندبغيرله نکاح څخه محروم ساتل يومشکل کارهم وواودډيروفتنوباعث هم جوړيدای شو،په دي وجه متأخرينوپه دي مسئله کې دمالکيه ودرأيې اختيارولو اجازت ورکړی ولي الشامية:لوافتی بقول مالک رحمه الله في موضع الضرورة لاباس به(يعنی دضرورت په وخت کې دامام مالک رحمه الله پرقول په فتوی ورکولو کې څه حرج نشته).

ف:دمفقود اودهغه دښځې ترمنځ دتفريق طريقه داده چې ښځه به قاضي ته دنکاح دفسخ کولو دعوه پيش کړی،قاضي به اولاًدمعاملي تحقيق وکړي،له خلکو څخه به پوښتنه وکړي،داخباراتو او اشتهاراتو په ذريعه سره به معلومات وکړي، نو چې کله دمفقود هيڅ حال معلوم نه شي نو قاضي به اوس ښځې ته څلور کاله وخت ورکړي چې په هغه کې دادخاوند انتظاروکړي ،دقاضی له حکمه بغيرله خپله طرفه دښځې انتظارمعتبرنه دی ،او په کوم ځای کې چې شرعي قاضي نه وي نوهلته جماعة المسلمين هم داکارسرته رسولی شي ،له څلور کاله انتظار کولو وروسته که خاوند نه راغی نو اوس به ښځه له خپل طرفه دوفات عده تيره کړي له دي څخه وروسته به دبلي نکاح مجازه وي ،ددي عدت لپاره قاضی ته رجوع کول ضروري نه ده،کله چې دوفات عده پوره شي نواوس هغه له کوم بل کس سره نکاح کولی شي.(جديد فقهي مسائل ۳،ص ۱۲۶)

ف:په دي دورکې که چيرته شرعي قاضي نه وي نوهلته به څه کوي ؟په دي باره کې حکيم الامت حضرت مولانااشرف علی تهانوی نورالله مرقده فرمايي،دهندوستان په کوموولايتونوکې کې چې شرعي قاضيان موجوددي په هغوځايوکې خومعامله اسانه ده اوپه حکومتي علاقوکې چې چيرته شرعي قاضی نشته په هغوئ کې هغه حکام جج مجسټريټ وغيره کوم چې دحکومت له طرف څخه په دي قسم معاملاتوکې دفيصلي کولواختيارلري که هغوئ مسلمان وي اودشرعي قاعدي موافق فيصله کوي نودهغوئ حکم هم دقضاء قاضی قائم مقام ګرځي،لمافی الدرالمختار:ويجوزتقلدالقضاء من السلطان العادل والجائرولوكافراذكره مسكين،وغيره ليکن که په کوم ځای کې فيصله کونکی حاکم غيرمسلم وي نودهغه فيصله بالکل غيرمعتبره ده دهغه په حکم سره فسخ وغيربالکل نه شي کيدلای ،لان الكافرليس باهل للقضاء على المسلم كماهومصرح فی جميع كتب الفقه ......اوکه فيصله کوم جماعت (ټولی)ته وسپارل شي لکه چې ځيني وختونه دججانو کميټي ته سپارل کيږي ياپه پينځ کې وړاندي کيږي يادڅوکسانوکميټي ته سپارل کيږي نوپه دي صورت کې ددي ټولو ارکانومسلمان والی شرط دی که کوم غيرمسلم جج اومجسټريټ اوممبرهم ددي رکن وونوشرعاًددي جماعت فيصله په هيڅ قسم معتبره نه ده په داسي فيصله سره تفريق وغيره بالکل صحيح نه دی.

اوپه کوم ځای کې چې مسلمان حاکم موجودنه وي يادمسلمان حاکم په عدالت کې دمقدمي دپيښولو اختيارقانونانه وي يامسلمان حاکم دقواعدشرعيه مطابق فيصله نه کوي نوپه دي صورت کې دفقه حنفي مطابق خوښځي لره دجلاوالی لپاره بغيردخاوندله طلاق وغيره څخه علاوه هيڅ صورت نشته اوحتی الوسع لازم ده چې دخلع وغيره کوښښ وکړي .ليکن که خاوندپه هيڅ طريقه سره نه منل ياد ليوتوب ياورکوالی په وجه سره له هغه څخه خلع وغيره ممکنه نه وه اوښځې لره دصبرهمت نه وو نومجبوراً دمالکي مذهب مطابق ددينداروسلمانانوپه جرګه کې دمعاملي دوړاندي کولو ګنجائش شته ولی چې دمالکيه وپه مذهب کې دقاضی وغيره دنه موجودوالی په حال کې دا صورت هم جائزدی چې دکلي ددينداړو مسلمانانويوجماعت دکوموچې تعدادلږترلږه دري وي جرګه وکړي اودواقعي په تحقيق کولوسره دشريعت موافق حکم وکړي نوداهم دقضاء قاضی قائم مقام ګرځي ......اودضرورت شديده اوابتلاء عام په وخت کې دحنفيه وپه نزددنوروائمه ودمذهب په اختيارو لوسره پرهغه فتوی ورکول هم جائزده ليکن عواموله په خپله رأيه سره په کومه مسئله کې چې وغواړي دداسي کولواجازه نشته بلکه ددېراحتياط ضرورت دی .....اوپه دي زمانه کې احتياط په دي دول سره کيدای شي چې ترڅوپوري چې له محققواومتدينوعلماء کرامو څخه متعددحضرات په کومه مسئله کې دضرورت دتحقق په تسليمولوسره دبل امام په مذهب فتوی ورنه کړي ترهغه وخت پوري دي بالکل دخپل امام مذهب نه پريږدي ولی چې دغيرپه مذهب په عمل کولوکې داشرط دی چې داتباع هوی پراساس نه وي بلکه دضرورت داعيه په وجه سره وي اوضرورت هغه معتبردی کوم چې علماء اواهل بصيرت ضرورت وګڼي ....الخ .(حيله ناجزه :ص۳۳تا۳۵)

ف:دمفقودښځې ته چې دقاضی په عدالت کې دفسخ نکاح له درخواست څخه وروسته کوم دڅلورو کالودانتظارحکم ورکړل شوی دی داپه دي صورت کې دی چې دښځې لپاره دنفقي اوګذاره کولوهم څه

انتظام وي او له عفت او عصمت سره ددي مدي په تيرولو قدرت هم وي او که ددي دنفقي او ګذاري کولو هيڅ انتظام نه وي نه دخاوندله مال څخه اونه دکوم عزيزاو قريب يا حکومت په تکفل سره اوپه خپله هم په عفت او عصمت سره دمزدوري په کولوخپله ګذاره نه شي کولی، نوترڅوپوري چي صبرکولی شي دخاوندانتظاردي وکړي چي دهغه مده به تريوي مياشتي کمه نه وي له دي څخه وروسته دي دقاضي ياکوم مسلمان حاکم په عدالت کي دفسخ نکاح دعوی دائره کړي.

اوکه دنفقي اوګذاره کولوانتظام خووي مګربغيرله خاوندڅخه په اوسيدلوکي دخپل عفت اوعصمت قوی انديښنه وي نوله يوکال صبرکولوڅخه وروسته دي قاضی ته مرافعه وکړي اوپه دواړو صورتونوکي به دګواهانوپه ذريعه سره دا ثابتوي چي ددي فلانکی خاوندله دومره مدي څخه غائب دی اوهغه ددي لپاره هيڅ نان اونفقه نه ده پريښي ،اونه يي څوک دنان اونفقي ضامن جوړکړی دی اودي خپله نان اونفقه هغه ته ورمعاف کړي هم نه ده ،اوپردي به ښځه قسم هم کوي،اوپه دوهم صورت يعنی دعفت دخطري په حالت کي به قسم اخلي چي زه بغيرله خاوندخپل عفت نه شم ساتلای، قاضی ته چي کله داثبوت مکمل شي نوقاضی به ددي ته ووايي چي ماستانکاح فسخ کړه ،يابه دخاوندله طرف څخه طلاق ورکړي يابه خپله ښځي ته اختيارورکړي چي هغه پرخپل نفس طلاق واقع کړي اوکله چي ښځه پرخپل ځان طلاق واقع کړي نوقاضی به داطلاق نافذکړي . (جديدمعاملات کي شرعی احکام :۲/۱۲۰).

ف:داسي خاوندچي بالکل لادرکه نه وي ،ليکن دهغه کومه متعين درک هم نه وي ،کله اوريدل کيږي چي هلته دی اوکله دلته دی ليکن ښځي ته نه راځي اونفقه نه اداء کوي دي ته په اصطلاح کي غائب غيرمفقودويل کيږي ،دنفقي دنه اداء کولواوله جنسي حق څخه دمحرومولوپه وجه سره دښځي په غوښتنه سره قاضی ددي نکاح هم فسخ کولی شي ،دامام احمدپه نزدکه دده يومعين درک وي ،خوهغه يي هم راځي ليکن نفقه نه ورکوي يانفقه هم اداء کوي ليکن کورته په نه راتلوسره قصداښځي ته تکليف ورکوي اوهغه له صنفي تقاضاوڅخه محرومه ساتي نوهم قاضی ددي نکاح فسخ کولی شي نوکله چي په دي صورت کي دنکاح دفسخ کولوګنجائش شته حال داچي دخاونددرک هم شته نوکه له سره دهغه هيڅ درک نه وي اوهغه تښيدلی اوسي نوښځي لره دهغه له ظلم اودهغه له طرف څخه درسيدونکی ضررڅخه دخلاصولولپاره به فسخ نکاح په طريقه اولی سره جائزوي .(جديدفقهی مسائل :۳/۱۴۳)

(۶)دمفقوددغائب والی په حالت کي چي دهغه کوم قريب مرکيږي مفقودبه دهغه وارث نه متصورکيږي ولی چي دمفقودژوندمتحقق نه دی اودوارث والی لپاره دمورث مرګ اودوارث حيات شرط دی ،په دي باره کي قاعده داده چي مفقوددخپل ځان په باره کي ژوندی شمارل کيږي لهذادهغه ښځه له بل چاسره نکاح نه شي کولی اودهغه مال په وارثانونه شي تقسيميدلی وغيرذالک . اومفقوددنوروپه حق کي مړشمارل کيږي لهذاهغه به دکوم قريب وارث نه وي .

(۷)فلو کان مع المفقود وارث يحجب به لم يعط شيئا(۸)وان انتقص حقه به يعطيه اقل من النصيبين ويوقف الباقي(۹)کالحمل

ترجمه :اوكه وي له مفقود سره كوم داسې وارث چې هغه دده په وجه سره محجوب كيږي نو هغه ته به هيڅ نه وركول كيږي، اوكه د هغه حق كميږي دده په وجه سره نو وركول كيږي به هغه ته له دوو حصو څخه كمه حصه ،اوباقي به موقف ساتل كيږي، د حمل په شان.

تشريح :(۷)كه د مفقود كوم قريب مړشو اوله مفقود سره ددې ميت كوم داسې وارث هم شته چې د مفقود په موجودوالي كې هغه وارث له تركې څخه محروميږي نو داسې وارث ته به هيڅ نه وركول كيږي ولې چې مفقود حكما موجود په حكم كې دى ترڅو چې قاضي دده د مرګ حكم و نه كړي.

(۸)اوكه له مفقود سره ددې ميت يو داسې وارث وي چې د مفقود په موجودوالي كې صرف د هغه حصه كميږي محروميږي نه نو د مفقود په موجودګي اوغيرموجودګي كې چې په كوم صورت كې ده ته كمه حصه حاصليده له هغه به وركول كيږي اوباقي به ملتوي پاتې كيږي مثلايو كس دوه لوڼې اويو مفقودزوى اويو لمسى پريښوداومړشو اودده مال له كوم اجنبي سره دى اودې اجنبي او وارثانو دده دزوى په مفقودوالي اتفاق وكړاو دواړو لوڼو ميراث طلب كړنو دوئ ته به له ثلثان اونصف څخه كم يعني نصف ميراث وركول كيږي ولې چې داهغه وارثان دي دكوموحصه چې د مفقود په وجه له ثلثان څخه دنصف طرف ته كميږي نو دوئ حصه نصف متيقنه ده لهذا دوئ ته به نصف ميراث وركول كيږي اوباقي نصف به موقوف پاتې كيږي اولمسيانو ته به هيڅ نه وركول كيږي ولې چې داهغه وراث دى كوم چې د مفقود په وجه سره محروميږي او دمفقود دمرګ څرنګه چې يقيني نه دى لهذا دشک په وجه به دميراث مستحق نه ګرځي.

(۹)يعني په مذكوره بالاصورت د حمل دصورت په شان دى چې كه له حمل سره نور وارثان وي نو كه داسې وارث وي كوم چې د حمل په وجه سره ساقطيږي نو هغه ته به حصه نه وركول كيږي اوكه داسې وارث وي چې د هغه حصه د حمل په وجه سره كميږي نو هغه ته به كمه حصه وركول كيږي ولې چې همدا متيقنه ده مثلاكوم كس مړشو شاته يې دوه زامن اويو حمل پريښود نو دامام ابويوسف رحمه الله دقول مطابق به يو ثلث مال موقوف پاتې كيږي او دوه ثلثه به زامنو ته وركول كيږي داهغه صورت دى په كوم كې چې د حمل په وجه سره دموجوده وارثانو حصې كميږي ولې چې كه حمل نه واى نو موجوده زامنو ته به نصف نصف وركول كيدى د حمل په وجه سره ددوئ حق له نصف څخه د ثلث طرف ته كم شو، همداشان كه كوم كس مړشو او شاته يې دوه ورنړه او حمل پريښودنو په دې صورت كې به ټول ميراث موقوف وي داهغه صورت دى په كوم كې چې د حمل په وجه سره موجود ورثاء محروميږي.

كِتَابُ الشِّرْكَةِ

داكتاب د شركت په بيان كې دى

شركت په لغت كې دوه يا زياتې حصې په دې ډول يوځاى كول چې په هغو كې امتيازنه كيږي ته ويل كيږي، مجازاًعقد شركت ته هم شركت ويل كيږي اوشرعاًهغه. عقدته ويل كيږي په كوم كې چې دمتشاركينو اشتراک په رأس المال اومنفعت دواړو كې وي.

له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې په شريکينوکې دهريوه مال له هغه بل سره امانت وي لکه دمفقودمال چې له حاضرکس سره امانت وي په دي مناسبت سره مصنف ﷫ له كتاب المفقودڅخه وروسته كتاب الشركة ذكركړ.

دشرکت جوازپه ادله اربعه سره ثابت دی اماالكتاب فقوله تعالى ﴿فهم شركاء فى الثلث﴾ واماالسنة فكمافى سنن ابى داؤدوابن ماجه والحاكم عن السائب ان قال كان رسول الله ﷺ شريكي فى الجاهلية ،اوپرجوازشرکت دائمه واجماع ده اوپه قياس سره په دي ډول ثابت دی چې شرکت درزق دطلبولولاره ده اودرزق طلبول مشروع عمل دی.

(۱) شِرْكَةُ الْمِلْكِ أَنْ يَمْلِكَ اثْنَانِ عَيْنًا إرْثًا أَوْ شِرَاءً وَكُلٌّ أَجْنَبِيٌّ فِي قِسْطِ صَاحِبِهِ (۲) وَشِرْكَةُ الْعَقْدِ أَنْ يَقُولَ أَحَدُهُمَا شَارَكْتُكَ فِي كَذَا وَيَقْبَلَ الْآخَرُ (۳) وَهِيَ مُفَاوَضَةٌ إنْ تَضَمَّنَتْ وَكَالَةً وَكَفَالَةً وَتَسَاوَيَا مَالًا وَتَصَرُّفًا وَدَيْنًا (۴) فَلَا تَصِحُّ بَيْنَ حُرٍّ وَعَبْدٍ وَصَبِيٍّ وَبَالِغٍ (۵) وَمُسْلِمٍ وَكَافِرٍ

ترجمه:شرکت ملک دادی چې دوه مالکان شي دکوم شئ په وراثت يااخيستلوسره ،اوپه دوئ کې هريواجنبی دی دهغه بل په حصه کې ،اوشرکت عقددادی چې له دوڅخه يووواېي ماله تاسره په فلانی شئ کې شرکت وکړ،اودوهم هغه قبول کړي ،اوهغه شرکت مفاوضه دی که متضمن وي وکالت اوكفالت لره ،اودواړه په برابروي په مال اوتصرف اودين کې، نوشرکت مفاوضه صحيح نه دی دآزاداوغلام ،اوهلک اوبالغ ،اومسلمان اوکافرترمنځ.

تشريح:(۱)شرکت پردوه قسمه دی .(۱)شرکت املاک .(۲)شرکت عقود .شرکت املاک دادی چې يوشئ دوه کسان په ميراث وموندي اويايې دواړه په ګډه واخلي يادواړوته څوک يوشئ هبه کړي اودوئ دواړه هغه قبول کړي ياددواړو مالونه په دي ډول سره ګډشي چې امتيازيې پاتې نه شي ،ددي قسم حکم دادی چې له شريکينوڅخه يوهم دهغه بل له اجازې څخه بغيردهغه بل په حصه کې تصرف نه شي کولی اوهريودهغه بل په حصه کې اجنبی دی.

(۲)دشرکت دوهم قسم شرکت عقددی ،شرکت عقدهغه دی کوم چې دعقدپه سبب حاصل شوی وي مثلايوکس بل ته ووايې چې ماته ددومره روپوپه تجارت کې شريک کړي ،اوهغه بل ووايې مادامنظوره کړه ،بياشرکت عقودپرڅلورقسمه دی ،شرکت مفاوضه ،شرکت عنان (بكسرالعين وفتحها) شرکت وجوه ،شرکت صنائع.

(۳)مفاوضه له تفويض څخه ده په معنی دمساواة فى كل شئ ،اوپه اصطلاح کې شرکت مفاوضه دادی چې وکالت اوکفالت لره متضمن وي يعنی له دواړوشريکانوڅخه هريودهغه بل له طرفه وکيل اوکفيل وي ،اوپه مال اوتصرف کې اودين کې دواړه برابروي لهذادووحرو،مسلمانو،بالغانو، اوعاقلانو کسانوترمنځ صحيح کيږي ولی چې دمذکوره صفاتوپه لرونکوکې مساواة متحقق دی.

(۴)مذکوره شرکت يعنی شرکت مفاوضه دازاداوغلام په منځ کې صحيح نه دی اودهلک اوبالغ ترمنځ صحيح نه دی ولی چې حردتصرف اوکفاله (ديوچاضامن کيدل)دواړومالک دی اوغلام دمولی له اجازت څخه بغيرله دواړوڅخه ديوه هم مالک نه دی لهذاپه تصرف کې دمساواة دفقدان په وجه سره په دوئ کې شرکت مفاوضه صحيح نه ده .همدارازنابالغ هم دی چې دکفالې خومطلقامالک نه دی اودتصرف دولی

له اجازت څخه بغیرمالک نه دی لهذا دفقدان مساوات په وجه سره په نابالغ اوبالغ کې هم شرکت مفاوضه صحیح نه دی.

(۵)قوله ومسلم وکافر ای لایصح بین مسلم وکافر، یعنی دطرفینو په نزد د مسلمان اوکافرترمنځ هم شرکت مفاوضه صحیح نه ده ولی چې ذمی دځینو داسې تصرفاتو مالک دی دکوموچې مسلمان مالک نه دی (لکه تصرف فی الخمروالخنزیر) لهذا په دواړوکې مساوات نشته .البته دامام ابویوسف رحمه الله په نزدصحیح دی ولی چې په کفالت اووکالت کې دواړه سره برابردي له دي څخه دزائد اعتبار نشته .

(۶)ومایشتریه کل یقع مشترکا الا طعام أهله وکسوتهم (۷)وکل دین لزم أحدهما بتجارة وغصب وکفالة لزم الآخر (۸)وتبطل إن وهب لأحدهما اوورث ماتصح فیه الشرکة (۹)لاالعرض (۱۰)ولاتصح مفاوضة وعنان بغیر النقدین والتبر والفلوس النافقة (۱۱)ولوباع کل نصف عرضه بنصف عرض الآخر وعقد الشرکة صح

ترجمه :اوکوم یوچې څه اخلي هغه مشترک دي ماسوا دکوروالاوله خورک اودهغوئ له جامو څخه ،اوکوم قرض چې لازم وي په دوئ کې په یوه دتجارت یاغصب یاکفالت په وجه سره نوهغه پرهغه بل هم لازم ده ،اوباطلیږي که هبه کړل شوکوم یوته یاپه وراثت کې وررورسیدوداسې مال په کوم کې چې شرکت صحیح وي ،نه سامان ،اوصحیح نه دی شرکت مفاوضه اوعنان له نقدینو اودسپینوزروله ټوټواوله رائج الوقت پیسوڅخه بغیر،اوکه خرڅ کړهریوه خپل نصف سامان دهغه بل دنصف سامام په عوض اوعقدشرکت یې وکړنوصحیح دی.

تشریح :(۶)له متفاوضینوڅخه چې کوم یوهم څه شئ اخلي هغه به ددواړومشترک وي ولی چې دشرکت مفاوضه مقتضی مساوات دی اوپه تصرف کې هریوشریک دهغه بل قائم مقام دی نودکوم یوه کوم شئ اخیستل داسې شولکه چې دواړواخیستی وي البته هغه شیان کوم چې له حاجات راتبه (دائمی ضروریات)څخه وي هغه بناء برضرورت دشرکت مفاوضه له حکم څخه مستثنی دي مثلادعیال طعام اوجامې اونوردضرورت شیان ولی چې دائمی ضرورت معلومة الوقوع دی کوم چې نه په شریک ثانی باندي واجب کیدای شي اونه دشریک ثانی له مال څخه ثمن ورکول کیدای شي لهذا په هغوپسې به مشتری مختص وي .

(۷)له متفاوضینوڅخه که پرکوم یوه باندي دتجارت په وجه قرض راغی یادکوم شئ دغصب کولوپه وجه سره یادکوم شئ دضامن کیدلوپه وجه سره قرض راغی نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدهغه بل هم ددي ضامن دی ترڅوچې مساوات متحقق شي اوکفالت ښکاره شي ولی چې له دواړوڅخه هریودهغه بل ضامن هم دی ،حال داچې دامام ابویوسف رحمه الله په نزددغصب اوکفالت په صورت کې چې کوم قرض دده پرذمه لازم وي دهغه به هغه بل شریک ضامن وي ولی چې داقرضه له تجارتې قرضه څخه ماسواده لهذا دادکوم جنایت دتاوان په شان په هغه بل شریک لازمه نه ده .

(۸)که له متفاوضینوڅخه کوم یوديوداسې شئ وارث شوچې په هغه کې شرکت صحیح وي یاکوم یوه ته کوم شئ هبه کړل شواوهغه شئ دده لاس ته ورسیدونوشرکت مفاوضه باطلیږي ولی چې په مفاوضه کې مساوات فی المال ابتداء هم ضروري دی اوبقاء هم حال داچې په مذکوره صورت کې مساوات بقاء باقی پاتې نه شواواوس داشرکت عنان ګرځي ولی چې په شرکت عنان کې مساوات شرط نه دی.

(۹)قوله لاالعرض اى لاتبطل المفاوضه لووهب لاحدهماالعرض ،يعني كه اسباب مثلاً جامه وغيره كوم شئ په دي ډول ده ته حاصل شونو په دي سره شركت مفاوضه نه ماتيږي ولى چې په اسبابو كې شركت صحيح نه دى لهذا په هغو كې تفاوت شركت مفاوضه لره نه ابتداء مانع دى او نه بقاء لهذا د اسبابو په وجه شركت مفاوضه نه باطليږي.

(۱۰)شركت مفاوضه او شركت عنان له نقدينو (يعني دراهم او دنانير) او دسپينو او سروزرو په ټكرو اورائج الوقت روپيو څخه په علاوه كې جائزنه دى يعني له دي شيانو څخه ماسوا په عروضو، مكيلي او موزني شيانو كې او څمكه كې شركت صحيح نه دى يعني داشيان دشركت لپاره رأس المال نه شي جوړيدلى ولى چې داربح مالم يضمن (يعني دداسې شئ ګټه چې ته دهغه ضامن نه يې)ته مفضى كيږي اوربح مالم يضمن څخه نبى كريم ﷺ منع فرمايلي ده،ربح مالم يضمن ته دمذكوره شيانو دمفضى والى صورت په دي ډول دى چې له شريكينو څخه يوه خپل دشركت عروض دزرو روپو په عوض خرڅ كړل او هغه بل په پنځه لس سوه خرڅ كړل او دعقد مقتضى په كل كې شركت دى نو دزرو روپو خاوند چې له هغه بل سره په پنځلس سوه كې له زرو څخه په زائد پنځه سوه كې خپله حصه وړي نو هغه ربح مالم يضمن ده (يعني دداسې شئ ګټه ده چې دهغه ته ضامن نه يې).

(۱۱)له دراهمو او دنانيرو څخه علاوه په عروضو او حيوان كې شركت مفاوضه صحيح نه دى ليكن كه څوك په دي كې شركت مفاوضه كول وغواړي نو صورت يې دادى چې له شريكينو څخه دي هريو دخپل مال غيرمعين نصف حصه دهغه بل دمال د غيرمعين نصف حصې په عوض خرڅ كړي اوس دي دواړه شريكان شي ولى چې دوئ دواړه دعقد بيع په ذريعه په قيمت كې شريكان شول ليكن داشركت املاک دى بيا دي له دي څخه وروسته دشركت عقد وكړي ترڅو هريو دهغه بل وكيل او كفيل شي نو دابه شركت مفاوضه شي دادشركت في العروض دصحت حيله ده.

(۱۲)وَعِنَانٌ إِنْ تَضَمَّنَتْ وَكَالَةً فَقَطْ وَتَصِحُّ مَعَ التَّسَاوِي فِي الْمَالِ دُونَ الرِّبْحِ وَعَكْسِهِ وَبِبَعْضِ الْمَالِ (۱۳) وَبِخِلَافِ الْجِنْسِ وَعَدَمِ خَلْطٍ (۱۴) وَطُولِبَ الْمُشْتَرِي بِالثَّمَنِ فَقَطْ (۱۵) وَرَجَعَ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْهُ وَتَبْطُلُ بِهَلَاكِ الْمَالَيْنِ أَوْ أَحَدِهِمَا قَبْلَ الشِّرَاءِ (۱٦) وَإِنْ اشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِمَالِهِ وَهَلَكَ مَالُ الْآخَرِ فَالْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا وَرَجَعَ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْهُ

ترجمه:او شركت عنان دى كه متضمن وي صرف وكالت لره او صحيح دى په مال كې له برابري سره نه په ربح كې يا ددي عكس وي يا په بعض مال كې شركت وي ،يا خلاف جنس وي او له عدم خلط سره، او مطالبه به كيږي صرف له مشتري څخه دثمنو ،او رجوع به كوي پر شريک باندي په دومره حصه كې او باطليږي ددواړو يا يوه دمال په هلاكيدلو سره له شراء څخه وړاندي ،او كه واخيست يوه په خپل مال سره څه شئ او هلاک شو دهغه بل مال نو اخيستل شوى سامان به ددواړو ترمنځ مشترک وي او رجوع به كوي دهغه دحصې په باره كې دهغه په ثمنو كې له خپل شريک څخه.

تشريح:(۱۲)دشركت عقد دوهم قسم شركت عنان دى ،شركت عنان دادى چې صرف وكالت ته متضمن وي كفالت ته متضمن نه وي يعني له شريكينو څخه هريو دهغه بل وكيل وي كفيل نه وي نو دا شركت عنان دى،په شركت عنان كې داصحيح دى چې مال ددواړو برابر وي او په ربح كې كمى بيشي وي اود دي عكس هم

صحيح دی چې مال برابر نه وي او ربح برابره وي ولی چې دربح استحقاق لکه څرنګه چې دمال په ذريعه سره راځي دعمل په ذريعه سره هم راځي ولی چې له شريکينو څخه کله کوم يو ډير چالاک او قوی وي کوم چې په مساوات منافع باندي نه راضی کيږي لهذا دتفاضل فی الربح ضرورت دی په دي وجه تفاضل فی الربح جائزده ،اوداهم جائزده چې له شريکينو څخه هريو په خپل بعض مال سره عقدشرکت وکړي او په بعض مال سره شرکت ونه کړي ولی چې به شرکت عنان کې مساوات فی المال شرط نه دی .

(١٣)قوله وخلاف الجنس ای وتصح مع خلاف الجنس ،يعنی همدا شان شرکت عنان په خلاف الجنس کې هم صحيح دی مثلاً ديوه له طرف څخه دراهم وي او دهغه بل له طرف څخه دنانيروي او په دواړ مالونو کې خلط هم ضروري نه دی ،حال دا چې دامام زفر ﷫ او امام شافعی ﷫ په نزد په خلاف الجنس کې جائزنه دی ولی چې ددوئ په نزد خلط شرط دی حال دا چې په دوومختلفو اجناسو کې خلط نه شې متحقق کيدلی اوددوئ په نزد دخلط دشرط والی وجه داده چې ربح دمال فرع ده او په فرع کې شرکت نه شې راتلای ترڅو چې به اصل کې شرکت نه وي او په اصل کې شرکت په خلط سره راځي .داحنافو په نزد څرنګه چې خلط شرط نه دی لهذا په خلاف الجنس کې هم شرکت عنان صحيح دی او په ربح کې شرکت منسوب الی العقد دی نه الی المال لهذا دمال خلط والی شرط نه دی ،که شريکين مال سره ګډ نه کړي بياهم شرکت صحيح دی ولی چې شرکت منسوب الی العقد دی الی المال نه دی لهذا عقد شرط دی ، البته له عقد څخه وروسته له خلط څخه وړاندي هلاک شوی مال دصاحب المال شمارل کيږي دشرکت نه شمارل کيږي .

(١۴)په شرکت عنان کې چې له شريکينو څخه کوم يو هم څه شئ اخلي دڅمن مطالبه به له هغه څخه کيږي نه له هغه بل څخه ولی چې شرکت عنان وکالت ته خو متضمن دی مګر کفالت ته متضمن نه دی لهذا يو دهغه بل ضامن نه دی په دي وجه ديوه په ذمه چې څه لازم وي دهغه مطالبه له هغه بل څخه نه شې کيدلی ،البته له خپل شريک څخه به دحصې په اندازه واپس اخلي که ده له خپل مال څخه اداء کړی وي ولی چې دی دخپل شريک له طرف څخه وکيل دی او وکيل له خپل مال څخه دڅمن داداء کولو په صورت کې په موکل درجوع کولو حق لري.

(١۵)که په شرکت عنان کې دکوم شئ له اخيستلو څخه وړاندي ددواړو شريکانو مال هلاک شو، يا احدالمالين هلاک شونو شرکت باطليږي ولی چې په شرکت کې معقودعليه مال دی او په هلاکت معقودعليه سره عقد باطليږي لکه په هبه،وصيت،او بيع کې چې په هلاکت معقودعليه سره عقد باطليږي،او دهلاکت احد المالين په صورت کې په دي وجه باطليږي چې دکوم شريک مال چې نه دی هلاک شوی هغه دهغه بل په خپل مال کې په شريکولو نه راضی کيږي ترڅو چې دی خپله دهغه بل په مال کې شريک نه وي لهذا شرکت باطليږي .

(١۶)له انعقادشرکت څخه وروسته که يوه شريک په خپل مال سره کوم شئ واخيستی بيا دشريک آخرمال دکوم شئ له اخيستلو څخه وړاندي هلاک شونو اخيستل شوی شئ به ددواړو ترمنځ دشرط مطابق مشترک وي ولی چې داخيستلو پروخت شرکت قائم وو لهذا په اخيستل شوی شئ کې ملک مشترک واقع

شوی دی ،البته مشتري به له خپل شریک څخه دده دحصې په اندازه ثمن اخلي ولې چې دهغه بل شریک په حصه کې ده په وکالت سره اخیستل کړي دي او ثمن یې له خپل مال څخه ورکړي دي لهذا ده ته بقدر حصه په خپل شریک درجوع کولو حق شته .

(۱۷)وَتَفْسُدُ إِنْ شَرَطَ لِأَحَدِهِمَا دَرَاهِمَ مُسَمَّاةً مِنَ الرِّبْحِ(۱۸)وَلِكُلٍّ مِنْ شَرِيكَيِ الْعِنَانِ وَالْمُفَاوَضَةِ أَنْ يُبْضِعَ وَيَسْتَأْجِرَ وَيُودِعَ وَيُضَارِبَ وَيُوَكِّلَ (۱۹)وَيَدُهُ فِي الْمَالِ أَمَانَةٌ

ترجمه :اوشرکت فاسد دی که یې شرط ولګاوو کوم یوه لره له منافع څخه دمعلومو دراهمو ،اوپه شرکت عنان اومفاوضه کې هرشریک لره اختیار شته چې هغه مال په بضاعت سره وکړي یا کوم څوک مزدور کړي یایې دامانت په ډول ورکړي یا پرمضاربت ورکړي یا څوک وکیل جوړ کړي ،اودهریوه قبضه پرمال دامانت قبضه ده.

تشریح :(۱۷)که له شریکینو څخه دکوم یوه لپاره دمعین دراهمو شرط ولګول شونو داشرکت صحیح نه دی (مثلا یوه شریک وویل چې له منافعو څخه به لس درهمه زماوي باقي چې کوم پاتې شي هغه به په منځ کې سره تقسیمو)ولې چې شرکت په منافعو کې داشتراک تقاضا کوي اوداسې شرط اشتراک ختموي ولې کیدای شي چې نفع دي صرف لس درهمه وي لهذا په داسې شرط سره شرکت فاسدیږي .

(۱۸)دشرکت مفاوضه اوعنان هرشریک ته داجائزده چې هغه مال بطوربضاعت (چاته مال ورکړل شي ترڅو هغه داخرڅ کړي اوددي مال کل ثمن اومنافع صاحب المال ته واپس کړي)ورکړي ،همداشان هریوله جائزده چې دمال شرکت دحفاظت لپاره څوک مزدوررونیسي ،یامال شرکت له یوچاسره دامانت په ډول کښیږدي ،یایې چاته په مضاربت (هغه عقدشرکت فی الربح دی په کوم کې چې له یوه طرف څخه مال وي اوله هغه بل طرف څخه عمل وي)ورکړي ،یاڅوک په مال کې دتصرف کولو وکیل جوړکړي ،داټول امورځکه چې له عادتونو دتجارانو څخه دي له کومو څخه چې تاجرچاره نه لري لهذا هرشریک ته ددي اختیارشته .

(۱۹) په مال شرکت کې دشریک قبضه قبضه امانت ده ولې چې ده دمالک په اجازه سره پردي قبضه کړي ده علی وجه البدل نه ده لکه داخیستلو لپاره پریوشئ قبضه کول اوعلی وجه الوثیقه هم نه ده لکه دمرتهن قبضه پررهن باندي لهذادهریوه قبضه په مال مشترک باندي پرودیعت دقبضې په شان ده نوکه بغیرله تعدی هلاک شونو شریک به ضامن نه وي .

(۲۰)وَتُقْبَلُ إِنِ اشْتَرَكَ خَيَّاطَانِ أَوْ خَيَّاطٌ وَصَبَّاغٌ عَلَى أَنْ يَتَقَبَّلَا الْأَعْمَالَ وَيَكُونَ الْكَسْبُ بَيْنَهُمَا(۲۱)وَكُلُّ عَمَلٍ يَتَقَبَّلُهُ أَحَدُهُمَا يَلْزَمُهُمَا (۲۲)وَكَسْبُ أَحَدِهِمَا بَيْنَهُمَا(۲۳)وَوُجُوهٌ إِنِ اشْتَرَكَا بِلَا مَالٍ عَلَى أَنْ يَشْتَرِيَا بِوُجُوهِهِمَا وَيَبِيعَا وَتَتَضَمَّنُ الْوَكَالَةَ(۲۴)وَإِنْ شَرَطَا مُنَاصَفَةَ الْمُشْتَرَى أَوْ مُثَالَثَتَهُ فَالرِّبْحُ كَذَلِكَ وَبَطَلَ شَرْطُ الْفَضْلِ

ترجمه :اوشرکت تقبل دی که شریک شول دوه درزیان یایودرزی اویورنګسازپردي شرط چې دواړه به کارکوي اوګټه به ددواړو ترمنځ وي .اوکوم عمل چې یو قبول کړي هغه به په دواړو لازم وي .اودیوه په ګټه کې به دواړه مشترک وي، اوشرکت وجوه دی که هغوئ دواړه شریک شول بلامالِه ،پردي شرط چې دواړه به

په خپل اعتبار سره مال اخلي او بیا به یې خرڅوي او دا متضمن وي وکالت لره نو که یې شرط کړ دا خیستل شوی شئ نصف نصف یا ثلث ثلث ،نو نفع به همداشان وي او باطلیږي دزیادت شرط .

تشریح :(۲۰) قوله وتقبل ای الثالث من انواع شرکة العقد شرکة تقبل ،یعنی دشرکت عقد دریم قسم شرکت تقبل دی کوم ته چې شرکت صنائع ،شرکت اعمال او شرکت ابدان هم ویل کیږي .عند الاحناف تقبل دادی چې دوه کاریگران په دې متفق شي چې دواړه به له خلکو څخه اعمال بلوي او کوم یو چې کوم کار هم کوي پر هغه بل به لازم وي او ګټه به د دواړو مشترکه وي لکه د دوو درزیانو (خیاطانو) یا یوه درزی او یوه رنګساز (رنګ کونکی) شرکت ،په دې ډول شرکت جائز دی ولی چې مقصود علی وجه الاشتراک د منافعو تحصیل دی کوم چې پر وجود د مال موقوف نه دی بلکه په عمل سره هم ممکن دی. دا قسم شرکت جائز دی خواه که شریکین په اعمالو کې متفق وي لکه دوه خیاطان یا دوه رنګسازان یا په اعمالو کې مختلف وي لکه یو خیاط او یوه رنګساز ،دامام شافعي او امام زفر په نزد جائز نه دی ولی چې په منافعو کې شرکت په رأس المال کې په شرکت مبنی دی نو کله چې په دې قسم کې مال نشته نو شرکت به څرنګه متصور شي .

(۲۱) او له دواړو څخه چې کوم یو هم کوم کار اخلي هغه پر ده او دده پر شریک لازم دی ولی چې خپله ده هغه مسلط کړ چې د خپل ځان او مال پاره کار قبلوه .

(۲۲) که چیرته کار یوه وکړ نو بیا به هم ګټه د دواړه په منځ کې نصف نصف وي که یې شرط نصف نصف لګولی وو که نه نو چې څرنګه یې شرط لګولی وي ولی چې له دواړو څخه هر یو د ضمان عمل په وجه سره بقدر ضمان د نفع مستحق ګرځي نه د حقیقت عمل په وجه سره نو دیوله طرف څخه د عمل زیاتوالی له هغه بل سره اعانت شمارل کیږي .

(۲۳) قوله ووجوه ای الرابع من انواع شرکة العقد شرکة وجوه ،یعنی دشرکت عقد څلورم قسم شرکت وجوه دی د کوم چې صورت دادی چې له شریکیانو سره مال نه وي هغوئ په دې خبره عقد شرکت کوي چې د خپل اعتبار او اعتماد په بناء به مال په پور اخلو بیا به یې خرڅوو کوم نفع چې حاصله شي هغه به په خپل منځ کې تقسیمو و ،د شرکت دا قسم هم جائز دی او هر یو چې څه اخلي په هغه کې هر یوله دوئ څخه د هغه بل وکیل دی په دې وجه چې د شرکت دا قسم وکالت ته متضمن وي ولی چې تصرف علی الغیر جائز نه دی مګر په وکالت یا ولایت سره ولایة خو دلته نشته لهذا وکالت متعین دی .

(۲۴) که په شرکت وجوه کې شریکینو دا شرط ولګاوو چې اخیستل شوی شئ به د دواړو تر منځ نصف نصف وي نو بقدر ملک به نفع هم په همدې شان نصف نصف وي په دې صورت کې کمی او بیشي جائز نه ده ،او که یې اخیستل شوی شئ اثلاثا واخیستی یعنی یوه یو ثلث او دوهم دوه ثلثه واخیستی نو نفع به هم اثلاثا تقسیمیږي ولی چې په شرکت وجوه کې منافع بالضمان دي او ضمان په مشتری کې بقدر ملک دی لهذا منافع به هم بقدر ملک وي .او دزائد ربح شرط لګول باطل دي مثلا مشتری نصف نصف وي او منافع اثلاث وي نو دا جائز نه ده ولی چې زائد ربح مالم یضمن (یعني دهغه شئ نفع ده چې مضمون نه دی) ده لهذا دا شرط لګول جائز نه دی .

فصل في الشركة الفاسدة

دا فصل د شرکت فاسده په بیان کې دی

شرکت فاسده هغه دی په کوم کې چې د صحت شرکت له شرطونو څخه کوم شرط متحقق نه شي ،له ماقبل سره یې وجه د مناسبت داده چې کله منصف رحمه الله د شرکت صحیحه له بیان څخه فارغ شو نو د شرکت فاسده بیان یې شروع کړ د تاخیر وجه یې ظاهره ده چې شرکت صحیحه اصل دی او شرکت فاسده د عارض په وجه سره دی

(۱) وَلا تَصِحُّ شِرْكَةٌ فِي احْتِطَابٍ وَاصْطِيَادٍ وَاسْتِقَاءٍ (۲) وَالْكَسْبُ لِلْعَامِلِ وَعَلَيْهِ أَجْرُ مِثْلِ مَا لِلْآخَرِ (۳) وَالرِّبْحُ فِي الشِّرْكَةِ الْفَاسِدَةِ بِقَدْرِ الْمَالِ وَإِنْ شَرَطَ الْفَضْلَ (۴) وَتَبْطُلُ الشِّرْكَةُ بِمَوْتِ أَحَدِهِمَا وَلَوْ حُكْمًا

ترجمه: او شرکت صحیح نه دی د لرګیو په راجمع کولو ،ښکار کولو ،او اوبو کښلو کې ،نو حاصلات د کار کونکي دي او پر ده د هغه بل اجرت مثل واجبیږي ،او نفع په شرکت فاسده کې بقدر مال وي که څه هم یې د زائد شرط لګولی وي ،او شرکت باطلیږي د کوم یوه په مرګ سره که څه هم مرګ حکما وي.

تشریح: (۱) په مباح الاصل شیانو مثلا لرګیو ،وښو ،د ښکار په حاصلولو او د اوبو په کښلو کې شرکت صحیح نه دی ولی چې شرکت وکالت ته متضمن دی او د حصول مباح لپاره توکیل صحیح نه دی ولی چې موکل لره په ثابت شوي شئ کې وکیل د تصرف ثابتولو ته وکالت ویل کیږي او د مباح شیانو خوځیله موکل مالک نه وي نو هغه به په دې باره کې بل څوک خپل قائم مقام څرنګه جوړ کړي ،لهذا مباح شئ د هغه دی چا چې پر هغه وراندي قبضه وکړه.

(۲) نو له شریکینو څخه چې کوم یو ښکار وکړي یا لرګي راټول کړي هغه به د هغه وي د هغه بل به نه وي ولی چې د ښکار کونکی او لرګیو د راټولونکی قبضه له هغه بل څخه وړاندي ده ،او که هغه بل شریک له ده سره کومک وکړ مثلا یوه لرګي مات کړ جمع یې کړل او دوهم راباړ کړل نو کومک کونکي ته به د ده د کار په مثل مزدوري ورکول کیږي ولی چې اولنی په په عقد فاسد سره د دوهم منافع حاصلې کړي لهذا دی به اجرت مثل ورکوي.

(۳) هر هغه شرکت کوم چې په یوه وجه سره فاسد شي په هغه کې منافع د شریکینو د رأس المال په حساب سره تقسیمیږي که څه هم یې دیوه لپاره د زائد شرط لګولی وي یعنی که رأس المال نصف نصف وو نو منافع به هم نصف نصف تقسیمیږي او که اثلاثا وو نو منافع به هم همداشان وي ،یوه لره زیاتو او بل لره د کمو منافعو شرط به باطل وي ولی چې ربح په دې کې د مال تابع ده لهذا بقدر مال به وي.

(۴) که له شریکینو څخه کوم یو مړ شو خواه که حقیقة مړ شوی وي او که حکما مثلا مرتد شو (العیاذ بالله) او دار الحرب ته ولاړ نو شرکت باطلیږي ولی چې شرکت وکالت ته متضمن دی او وکالت

په مرګ سره باطليږي، همداشان وکالت په مدتد کيدلو اودارالحرب ته په تللوسره هم باطليږي لهذا په مرګ يا دارالحرب ته په تللوسره شرکت هم باطليږي.

(۵) ولم يزك مال الآخر (٦) فإن أذن كل وأديا متعاقبا ضمن الثاني (٧) ولو متعاقبا ضمن الثاني (٨) وإن أذن أحد المتفاوضين بشراء أمة ليطأها ففعل فهي له بلا شيء.

توجمه ،اوزکوة دي نه ورکوي دهغه بل دمال دهغه له اجازت څخه بغير، نو که هريوه اجازت ورکړاودواړو يوځاى اداء کړنودواړه ضامنان دي ،اوکه يې يوپه بل پسې اداء کړنوروستـه والاضامن دى ،اوکه دمفاوضې کوم شريک دمينځې داخيستلواجازه ورکړه دوطى لپاره اوده واخيستله نومينځه به دده وي بلاعوضه.

تشريح :(۵)يوشريک دهغه بل شريک له اجازت څخه بغيردده دمال زکوة نه شي اداء کولى ولې چې هريوه ته دهغه بل له طرف څخه صرف په تجارتي اموروکې دتصرف کولواجازه حاصله ده اوکوة له تجارتي امورو څخه نه دى لهذاددوه له طرف څخه زکوة نه اداء کيږي بلکه دابه داداء کونکى له طرف څخه تبرع وي.

(۶)اوکه له شريکينو څخه هريوه هغه بل ته دزکوة داداء کولواجازت ورکړى وويـاداسې وشول چې ددوئ دواړوپه بې خبري کې په يووخت خپل اودشريک له طرف څخه زکوة اداء کړنوله دواړو څخه به هريودهغه بل لپاره ضامن وي ولې چې مقصودله عهده واجب څخه خروج دى اودامقصودخپله دده په اداء کولوسره حاصليږي اوماموړله دي ذمه واري څخه معزول دى خواه که دى علم لري اوکه يې نه لري ولې چې داعزل حکمى دياودعزل حکمى لپاره دوکيل علم شرط نه دى .نودمأموراداء کونه له مقصود څخه خالي ده په دي وجه دده ادائيګې معتبره نه ده.

(۷)اوکه له شريکينو څخه هريوه هغه بل ته دزکوة داداء کولواجازت ورکړى وومګرداسې وشول چې هريوه على سبيل التعاقب زکوة اداء کړنودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدوروستـه اداء کونکى ضامن دى خواه که داول اداء کول ده ته معلوم وي اوکه نه وي ولې چې له شريکينو څخه هريومأموربإداء الزکوة دى اوځرنګه چې زکوة اولنى اداء کړلهذااوروستـه اداء کول زکوة نه دى نودمخالف امرپه وجه سره ضامن دى اوداولنى په اداء کولوسره دوهم له دزکوة له اداء کولو څخه معزوليږي خواه که دى علم لرى اوکه يې نه لرى ولې چې داعزل حکمى دى اودعزل حکمى لپاره دوکيل علم شرط نه دى ،دصاحبينوپه نزددعدم علم په صورت کې ضامن نه دى.

ف:دامام صاحب قول راجح دى لماقال المفتى غلام قادرالنعمانى :القول الراجح هوقول الامام ،لان قول الامام قول المتون ......وقال العلامةابن عابدين:ان اصحاب المتون التزمواوضع القول الصحيح(القول الراجح: ۱/۵۱۷)

(۸)که دشرکت مفاوضه له دووشريکانو څخه يوه هغه بل ته دصحبت کولولپاره ديوې مينځې داخيستلواجازت ورکړهغه دشرکت په روپوسره مينځه واخيستله نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددا مينځه داخيستونکى لپاره مفته ده ،اودصاحبينوپه نزدبه اجازت ورکونکى له اخيستونکى څخه نيمايې روپۍ اخلي ولې چې اخيستونکى له مشترک مال څخه داسې قرض اداء کړکوم چې خاص پرده واجب وولهذادده ملکرى به له ده څخه خپله حصه وصول کوي ،دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادى چې شرکت مفاوضه مقتضى

دې ددي چې دامينځه ددوئ په منځ کې مشترکه وي ليکن کله چې يوه هغه بل ته دوطى اجازت ورکړاووطى بغيرله ملک څخه جائزنه ده لهذا هدابه فهمول کيږي چې ده خپله حصه هغه ته هبه کړه په دي وجه اوس مينځه بلاعوضه دهغه بل شوه .

كِتَابُ الْوَقْفِ

داکتاب دوقف په بيان کې دى

وقف لغة دحبس (بندولو ،درولو) په معنى دى ،اواصطلاحي تعريف يې له صاحبينوڅخه په دي ډول منقول دى ،چې يوشئ دالله تعالى په ملک ساتلواودهغه منفعت دالله تعالى په لاره کې صدقه کولوته وقف ويل کيږي .ددوئ په نزدوقف لازم وي ،اوموقوفه شئ دده له ملکيت څخه وځي اودالله تعالى ملک ګرځي .

له ماقبل سره يې مناسبت دادى چې له شرکت اووقف دواړوڅخه مقصودانتفاع ده ،البته دشرکت نفع په دنياکې حاصليږي اودوقف نفع په اخرت کې ،په همدي وجه يې دوقف تفصيل له شرکت څخه مؤخرکړ.

واقف،وقف کونکى ته ويل کيږي ،اوموقوف اسم مفعول دى وقف شوى شئ ته ويل کيږي، اوپر کومو خلکوچې وقف وکړل شي هغوئ ته موقوف عليهم اوپرکومه لاره چې وقف وکړل شي هغې ته جهت وقف ويل کيږي .له حديث شريف څخه دوقف جوازمعلوميږي مروى ده چې حضرت عمر ﷺ نبى كريم ﷺ ته وفرمايل . انى اصبت ارضابخيبرولم اصب مالاقط انفس منه فماتأمرنى، فقال ﷺ ان شئت حبست اصلهاتصدقت بثمرتها.

(١)هُوَحبسُ العَينِ على مِلكِ الوَاقِفِ وَالتَّصَدُّقِ بِالْمَنْفَعَةِ(٢)وَالمِلكُ يَزُولُ بِالْقَضَاءِ لَا إِلَى مَالِكٍ(٣)وَلَا يَتِمُّ حتى يَقْبِضَ وَيُفْرِزَ وَيَجْعَلَ آخِرَهُ لِجِهَةٍ لَا تَنْقَطِعُ(٤)وَصَحَّ وَقْفُ الْعَقَارِ بِبَقَرِهِ وَأَكْرَتِهِ(٥)وَمَشَاعٍ قَضَى بِجَوَازِهِ)

ترجمه :هغه عين شئ دواقف په ملک کې ساتل دى اوصدقه کول دي دمنفعت ،اوملک زائليږي په قضاء سره نه دکوم مالک طرف ته،اووقف نه تاميږي ترڅوچې قبضه وکړل شي اوعليحده کړل شي او ددي انجام داسې وګرځول شي چې منقطع نه وي ،اوصحيح دى دځمکې وقف کول ددي له غوايانو اوکارکونکوسره ،اوداسې مشاع شئ دکوم دجوازحکم چې شوى وي .

تشريح :(١)مصنف رحمه الله دوقف هغه شرعى تعريف کړى دى کوم چې له امام صاحب رحمه الله څخه منقول دى،چې کوم شئ دواقف په ملک کې ساتلواودهغه منفعت دالله تعالى په لاره کې صدقه کولوته په اصطلاح کې وقف ويل کيږي.داتعريف په دي خبره مبنى دى چې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدخو دمسجدوقف لازميږي ليکن بقيه اوقاف نه لازميږي اوپرهغه دواقف ملکيت باقى پاتې کيږي ، البته له دي څخه دوه صورتونه مستثنى دي يوصورت مصنف رحمه الله په راتلونکى عبارت کې بيان کړى دى .

(٢)که چاخپل مال وقف کړنوله وقف شوي مال څخه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددواقف ملک نه زائليږي مګرله دوو اموروڅخه په يوه سره – نمبر١:حاکم له وقف شوي مال څخه دواقف دملک

دزائليدلو فرمان جاري کړي ولی چې په کومه مسائلو کې چې دمجتهدينو اختلاف وي په هغو کې دحاکم دحکم ضرورت وي.

نمبر۲. واقف وقف شوی مال په خپل مرګ پوري معلق کړي مثلاداسې ووايي ،اذامت فقدوقفت داري علی کذا،نوصحيح داده چې دادوصيت په شان له مرګ څخه وروسته په ثلث مال کې لازميږي .دامام ابويوسف رحمه الله په نزددحکم حاکم ياتعليق بالموت ضرورت نشته بلکه دواقف په قول کولوسره له وقف شوی مال څخه دواقف ملک زائليږي ولی چې وقف خپل ملک دالله تعالی لپاره زائلول دي لهذادعتق په شان دوقف په قول کولوسره هم دواقف ملک زائليږي ،دامام محمد رحمه الله په نزددواقف ملک هغه وخت زائليږي کله چې دوقف شوي مال لپاره کوم متولی مقررکړای شي اومذکوره مال ده ته وسپارل شي ولی چې تمليک من الله قصدانه متحقق کيږي ولی چې الله تعالی دهرشئ مالک دي البته کوم بنده ته دتسليمولو په ضمن کې دزکوة وغيره په شان متحقق کيږي په دي وجه دوقف متولی مقررکول اوهغه ته موقوف شئ سپارل ضروري دی .اودامام محمد رحمه الله په نزددا هم شرط دی چې مذکوره مال به مشاع نه وي .اوواقف دخپل ځان لپاره له منافعو څخه دکوم شئ شرط ونه لګوي اوابدي وي چې اخرکاردفقراء لپاره وي.

ف: دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دی لمافی ردالمحتار:ثم ان ابايوسف يقول يصير وقفا بمجردالقول لانه بمنزلة الاعتاق وعليه الفتوی(ردالمحتار:۳/۳۹۲)

(۳)کله چې وقف دائمه دااختلاف موافق صحيح شي (يعنی دامام ابويوسف رحمه الله په نزد دوقف قول وکړي ،دامام ابوحينفه رحمه الله په نزدله دي سره حکم حاکم ياتعليق بالموت وي ،اودامام محمد رحمه الله په نزدوقف متولی ته وسپارل هم شي)نواوس وقف دواقف له ملک څخه زائليږي ليکن پرچاچې يې وقف کړی دی دهغه په ملک کې نه داخليږي ولی چې که دموقوف عليه په ملک کې داخليدی نودواقف دشرط موافق به دده له ملک څخه دنوروموقوف عليهم طرف ته نه منتقل کيدولکه چې دده نوراملاک دي اوحال دادی چې دواقف دشرط موافق وقف شوی مال له ده څخه بالاجماع منتقل کيږي.

دامام محمد رحمه الله په نزدوقف ترهغه وخت پوري نه تاميږي ترکله چې واقف هغه له خپل ملک څخه عليحده نه کړي اومتولی ته يې په قبضه کې ورنه کړي له خپل ملک څخه زائلول په دي وجه ضروري دي چې دامام محمد رحمه الله په نزددمتولی پرهغه قبضه شرط ده کومه چې له عليحده کولو څخه بغيرنه شي کيدای .همدرازدطرفينوپه نزدوقف ترهغه وخت پوري نه تاميږي ترڅوچې دده انجام داسې ونه ګرځول شي چې هغه هيمشه لپاره منقطع نه وي يعنی جاري پاتې شي ولی چې دطرفينورحمهما الله په نزددجوازوقف لپاره مؤبدوالی شرط دی نوکه يې دوقف داسې جهت مقررکړکوم چې منقطع کيږی نوهم داوقف جائزدی ددوئ په نزدددي جهت له انقطاع وروسته به وقف دفقراء لپاره وي که څه هم واقف دفقراء نوم نه وي ذکرکړی ولی چې لفظ دوقف اوصدقه په خپله دفقراء دذکرخبرورکوي.

ف: دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دی لمافی ردالمحتار:الاان عندابی يوسف لايشترط ذکره لان لفظ الوقف والصدقة منبئ عنه ولهذاقال فی الکتاب وصاربعدهاللفقراء وان لم يسمهم هذاهوالصحيح (ردالمحتار:۳/۴۰۰)

(۴)ځمکه وقف کول بالاتفاق صحیح ده ولې چې ځمکه ابدی ده لیکن داشیاءمنقوله وقف دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد جائزنه دی ولې چې دوئ لره بقانشته نودتوقیتی اوغیرمؤبدوالی په وجه ددوئ وقف جائزنه دی ،اودصاحبینو په نزدکه ځمکه دهغې له غوایانواوګرانوسره وقف کړي نوجائزدی که اوګران دواقف غلامان وي،همداشان دنوروزرعی آلاتووقف هم جائزدی ولې چې په حصول مقصودکې دوئ دځمکې تابع دي اوډیرداسې احکام شته چې تبعاخوثابتیږي مګرمقصودانه ثابتیږي.

(۵)قوله ومشاع ای وصح وقف مشاع ،یعنی دداسې مشاع شئ(دشرکاؤپه منځ کې غیر منقسم شئ) وقف کول چې دهغه دجوازحکم قاضی کړی وي جائزدی ولې چې په مختلف فیه حکم کې دقاضی حکم اختلاف قطع کوي ،اوکه قاضی حکم نه وي کړی نودامام ابویوسف رحمه الله په نزدوقف مشاع (دغیرمنقسم شئ وقف)جائزدی ولې چې تقسیم دقبض تتمه ده اودامام ابویوسف رحمه الله په نزدقبضه شرط نه ده نودهغې تتمه هم شرط ده .دامام محمد رحمه الله په نزددقابل تقسیم شئ مشاعاوقف صحیح نه دی په دي وجه چې دامام محمد رحمه الله په نزداصل قبضه شرط ده نودهغې تتمه یعنی تقسیم هم شرط دی.

ف:دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی لمافی الهندیة:وقف المشاع المحتمل للقسمة لایجوزعندمحمدوبه اخذمشائخ بخاری کذافی السراجیة والمتاخرون افتوابقول ابی یوسف انه یجوزوهو المختار (الهندیة:۲/۳۶۵)

ف:دابایدیادوساتل شي چې دااختلاف په قابل تقسیم شئ کې دی اوکه وقف شوی مال قابل تقسیم نه وي نودامام محمد رحمه الله هم یې په هبه په قیاسولوسره مع الشیوع دهغه وقف جائزګڼي.

(٦)وَمَنْقُولٍ فِيهِ تَعَامُلٌ (٧)وَلَا يَمْلِكُ الْوَقْفَ وَلَا يُقْسَمُ وَإِنْ وَقَفَ عَلَى أَوْلَادِهِ (٨)وَيَبْدَأُ مِنْ غَلَّتِهِ بِعِمَارَتِهِ بِلَا شَرْطٍ (٩)وَلَوْ دَارًا فَعِمَارَتُهُ عَلَى مَنْ لَهُ السُّكْنَى وَلَوْ أَبَى أَوْ عَجَزَ عَمَرَ الْحَاكِمُ بِأُجْرَتِهَا (١٠)وَيَصْرِفُ نَقْضَهُ إِلَى عِمَارَتِهِ إِنْ احْتَاجَ وَإِلَّا حَفِظَهُ لِلِاحْتِيَاجِ وَلَا يَقْسِمُهُ بَيْنَ مُسْتَحِقِّي الْوَقْفِ

ترجمه:او(وقف صحیح دی)دداسې منقولی شئ په کوم کې چې تعامل وي ،اودوقف نه مالک جوړول کیږي ،اونه تقسیمیږي که څه هم یې وقف کړي پرخپل اولادباندې ،اوابتداء دې کوي دوقف په حاصلاتو سره دوقف په تعمیربلاشرطه ،اوکه موقوف مکان وي نودهغه تعمیردهغه په اوسیدونکي ده اوکه ده انکاروکړیاعاجزشونوحاکم دې دهغه مرمت وکړي دهغه په اجرت سره ،اودهغه ملبه دې دهغه په عمارت کې ولګوي که ضرورت وي که نه نو محفوظه دې وساتې دضرورت لپاره اونه دې تقسیموي دمستحقینودوقف په منځ کې.

تشریح:(٦)قوله ومنقول فیه تعامل ای صح وقف منقول فیه تعامل الناس ،یعنی دامام محمد رحمه الله په نزدداسې منقولی شیانووقف کول جائزدی دکوموچې وقف عادة مروج وي مثلااسلحه ،قرآن مجید،کتب حدیث وغیره ،دقیاس تقاضاخوداده چې جائزنه وي ولې چې دجوازوقف لپاره مؤبدوالی شرط دی حال داچې په منقولی شیانوکې تاید نشته مګراستحساناًمنقولی شیانووقف جائزګرځول شوی دی ولې چې له روایاتوڅخه جوازمعلومیږي﴿قال ﷺ اماخالد فقدحبس ادراعاواعراساًفی سبیل الله تعالی﴾(یعنی خالدخپلې زرې اواسان دالله تعالی په لاره کې وقف کړي دي)،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدصرف په اسلحه اواسانوکې جائزدی.

ف:دامام محمد رحمه الله قول راجح دی لمافی الجوهرة النیرة:قال محمدیجوزوقف مافیه تعامل من المنقولات ....وعندابی یوسف لایجوزواکثرفقهاءالامصارعلی قول محمد(الجوهرة النیرة:۱/۳۳۳)

(۷)کله چې وقف صحيح شونو اوس هغه په ملکيت کې رواستل صحيح نه دی ولی چې دوقف دصحيح والی په صورت کې وقف شوي شيان دواقف له ملک څخه خارجيږي لهذااوس نه دی خپله دهغه مالک کيدای شي اونه کوم بل څوک دهغه مالک جوړولی شي،همداشان له صحت وقف څخه وروسته دموقوف شئ تقسيمول هم صحيح نه دي که څه هم دواقف پراولادوقف وي ولی چې دمستحقينو دوقف حق په عين وقف کې نه دی بلکه په منافع وقف کې دی لهذاعين دهغوئ په منځ کې تقسيمول صحيح نه دی،البته دامام ابويوسف ﷫ دمسلک مطابق که وقف مشاع وواوشريک تقسيمول وغوښتل نودا تقسيم صحيح کيږي ولی چې تقسيم صرف دتميزاوافرازيين الحقوقونوم دی،اوممنوع تمليک دی افرازنه دی.

(۸)يعنی ضروري ده چې ترټولووړاندي دوقف په حاصلاتوسره دوقف مرمت وکړل شي خواه واقف دوقف دمرمت شرط لګولی وي اوکه يې نه وِي لګولی ولی چې دواقف قصددادی چې هميشه دي دوقف منافع مستحقينوته رسيږي حال داچې دوقف بقاء هميشه ممکنه نه ده الاداچې دهغه مرمت کيږي لهذادوقف دتعميرشرط اقتضاءثابت دی.

(۹)که چاځپل کوردچاداوسيدنې لپاره وقف کړنوددي کورتعميربه ددي کس له مال څخه کيږي دچاچې اوسيدنه وي لان الغرم بالغنم،اوکه ده(من له السکنی)دکورله مرمت څخه انکاروکړ يادفقربه وجه له مرمت څخه عاجزشونوحاکم دي وقف شوی کورچاته په کرايه ورکړي اوپه همدي کرايه دي دکورمرمت وکړي اوله مرمت کولوڅخه وروسته چې کله داجاري مده ختمه شي نوکوردي واپس من له السکنی ته وروسپاري ولی چې په دي صورت کې دواقف اوموقوف عليه دواړودحق رعايت دی په دي دول چې دواقف بصدقه دواماجاري وي اودموقوف عليه بسکونت.

(۱۰)دوقف له عمارت وغيره څخه چې څه ولويږي ياآلات وقف (مثلادزراعت آلات)مات شي نوحاکم (کهاوس ضرورت وي)دي داملبه اودامات شوي آلات دوقف په مرمت کې مصرف کړي .اوکه اوس ضرورت نه وي نوودي ساتي کوم وخت چې دوقف دمرمت يعنی جوړولوضرورت پيش شي هغه وخت دي په مرمت کې مصرف کړي داپه دي وجه چې دحاجت پروخت دوقف له تعميرڅخه عاجزنه شي . اودوقف مات شوي شيان دمستحقين وقف په منځ کې تقسيمول جائزنه دي ولی چې دمستحقين وقف حق په عين وقف ياجزء وقف کې نه دی بلکه په منافع وقف کې دی.

(۱۱)وَاِنْ جَعَلَ الْوَاقِفُ غَلَّةَ الْوَقْفِ لِنَفْسِهِ اَوْ جَعَلَ الْوِلَايَةَ اِلَيْهِ صَحَّ (۱۲)وَيُنْزَعُ لَوْ خَائِنًا كَالْوَصِيِّ وَاِنْ شَرَطَ اَنْ لَا يُنْزَعَ

ترجمه :اوکه وکړواقف دوقف حاصلات خپل ځان ته يايې دهغه ولايت ځان ته کړنوصحيح دی ، اواخيستل کيږي به که هغه خائن وي لکه وصی که څه هم ده دله ده څخه دنه اخيستلوشرط لګولی وي .

تشريح :(۱۱)که واقف حاصلات وقف دخپل ځان لپاره وساتل مثلاوي ويل چې دوقف له حاصلاتوڅخه به يوه څلورمه برخه زماترژونده زمالپاره وي زماله مرګه وروسته به دفلان فلان لپاره وي ،ياواقف دوقف سرپرستی خپل ځان ته کړه نودامام ابويوسف ﷫ په نزدداجائزده ولی چې په دي کې خلکوته وقف

كولوترغيب دى ،دامام محمد رحمه الله قول دعدم جوازدى ولى چې دامام محمد رحمه الله په نزدوقف متولى ته ورسپارل ضروري دى كوم چې دلته موجودنه شو.

ف :دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دى لمافى الدرالمختار:وجاز جعل غلة الوقف لنفسه او الولاية لنفسه عند الثانى وعليه الفتوى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار:۳/۴۲۳)

(۱۲)كه واقف داشرط ولګاووچې دوقف حاصلات به ترژونده زه اخلم يابه ددې متولى زه يم نوداصحيح ده هوكه دى په وروسته كې خائن ثابت شونوموقوف شئ به له ده څخه اخيستل كيږي ولى چې له خائن ثابتيدلوڅخه وروسته هم وقف دده په لاس كې په پرېښودلوكې دفقراؤنقصان دى ،كه څه هم ده په وقف نامه كې داشرط لګولى وي چې داشئ به زماله قبضې څخه نه وځې نوبيابه هم ددې شرط لحاظ نه كيږي ولى چې داشرط له حكم شرع څخه خلاف دى لهذاداباطل دى ،داداسې دى لكه چې دكوم وصى خيانت ظاهرشي نوهغه وصى به موقوف كيږي اودده پرځاى به بل وصى مقرريږي ولى چې ده لره په وصى په برقرارساتلوكې دموصى دماشومانوتاوان دى.

فصل فى المسجدوغيره

دافصل دمسجد ،مقبري وغيره په بيان كې دى

دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددمسجدځينې احكام له نوروا وقافوڅخه مختلف دي مثلاله مسجدڅخه دقضاء قاضي بغيردواقف ملک نه زائليږي په دي وجه يې دهغه احكام په مستقل فصل كې ذكركړل.

(۱)وَمَنْ بَنَى مَسْجِدًا لَمْ يَزُلْ مِلْكُهُ عَنْهُ حَتَّى يُفْرِزَهُ عَنْ مِلْكِهِ بِطَرِيقِهِ وَيَأْذَنَ بِالصَّلَاةِ فِيهِ (۲)وَإِذَا صَلَّى فِيهِ وَاحِدٌ زَالَ مِلْكُهُ (۳)وَمَنْ جَعَلَ مَسْجِدًا تَحْتَهُ سِرْدَابٌ أَوْ فَوْقَهُ بَيْتٌ وَجَعَلَ بَابَهُ إِلَى الطَّرِيقِ وَعَزَلَهُ أَوِ اتَّخَذَ وَسَطَ دَارِهِ مَسْجِدًا وَأَذِنَ لِلنَّاسِ بِالدُّخُولِ فَلَهُ بَيْعُهُ وَيُورَثُ عَنْهُ

ترجمه:چاچې مسجدجوړكړنونه زائليږي له هغه څخه دده ملک ترڅوچې هغه جلاكړي له خپل ملک څخه په لاره سره اواجازت وركړي خلكوته په هغه كې دلمونځ كولو،نوكه چې په هغه كې لمونځ اداءكړكوم يوه كس نوزائليږي دده ملک ،اوكوم كس چې مسجدجوړكړي له كوم څخه لاندي چې تهه خانه وي يادهغه پرسربالاخانه وي اودهغه دروازه دلاري طرف ته كړي اوهغه جلاكړي يادخپل كورپه منځ كې مسجدجوړكړي اواجازت وركړي خلكوته په هغه كې دداخليدلونوده لره دهغه خرڅول جائزدي اوله ده څخه به په ميراث وړل كيږي .

تشريح :(۱)چاچې مسجدجوړكړنودطرفينوپه نزدداترهغه وخت پوري دواقف له ملک څخه نه خارجيږي ترڅوچې دى مسجدسره له لاري له خپل ملک څخه جلانه كړي ولى چې له دي څخه بغير مسجدخالص دالله تعالى لپاره نه شي كيداى ،اوداهم ضروري ده چې خلكوته په هغه كې دلمانځه داداء كولواجازت وركړي ولى چې دطرفينوپه نزدوقف متولى ته ورسپارل ضروري دى اودهرشئ سپارل دهغه مطابق وي نوڅرنګه چې په مسجدكې حقيقي قبضه متعذره ده لهذالمونځ كول دحقيقي قبضې قائم مقام ګرځول كيږي.

(۲)بیادیوه روایت مطابق که یوه کس هم په هغه کې لمونځ اداء کړنو دواقف له ملک څخه زائلیږي مګرمشهورروایت دادی چې صلوة بالجماعت ضروري دی ولی چې مسجد دهمدي لپاره جوړیږي .دامام ابویوسف رحمه الله په نزدصرف په دومره ویناسره چې جعلته مسجدا،دواقف له ملک څخه زائلیږي ولی چې دامام ابویوسف رحمه الله په نزددوقف متولی ته تسلیمول شرط نه دي .

(۳)که چاداسې مسجدجوړکړچې ترهغه لاندي ته خانه وي یادهغه پرسرکومه کوټه جوړه کړه او دمسجدلاره یې دعامې لاري طرف ته کړه اومسجدیې له خپل ملک څخه جلاکړیایې دخپل کورپه وسط کې مسجدجوړکړاوخلکوته یې هغه ته دراتلواجازت هم ورکړنوداشان مسجدونه دوقف په حکم کې نه دي لهذامالک دامسجدونه خرڅولی شي اوکه داکس مړشونودباقی ترکه په شان داهم وارثانوته منتقل کیږي ولی چې په اولنیودووصورتونوکې له مسجدسره دعبدحق دمتعلق والی په وجه داخالص دالله تعالی لپاره نه شولهذادادمسجدپه حکم کې نه دي ،مګرداحکم هغه وخت دی چې ته خانه اوبالاخانه داکس له مسجدڅخه ماسواپه نورومصالحوکې استعمال کړي اوکه یې دمسجدپه مصالحوکې استعمال کړه نودمالک ملک له هغه څخه دمنقطع والی په وجه اوس دادمسجدپه حکم کې دی اوپه دریم صورت کې په دي وجه مسجدنه دی چې مسجدخوهغه وي چې له هغه څخه دخلکو دمنع کولوحق هیچالره نه وي حال داچې دلته خوددي کس ملک مسجدته دمحیط والی په وجه ده لره داحق شته چې خلګ هغه ته له راتللوڅخه منع کړي لهذادادمسجدپه حکم کې نه دی.

(٣)وَمَنْ بَنى سِقَايَةً أَوْ خَانًا أَوْ رِبَاطًا أَوْ مَقْبَرَةً لَمْ يَزُلْ مِلْكُهُ عَنْهُ حَتَّى يَحْكُمَ بِهِ حَاكِمٌ(٥)وَإِنْ جَعَلَ شَيْءٍ مِنَ الطَّرِيقِ مَسْجِدًا صَحَّ كَعَكْسِهِ

ترجمه ،اوکوم کس چې حوض جوړکړي یاسرای یادلشکردپراولپاره ځای یاهدیره جوړه کړي نونه زائلیږي له دي څخه دده ملک ترڅوچې حکم وکړي ددي حاکم .اوکه دلاري څه حصه مسجدجوړکړل شونوصحیح دی لکه چې ددي عکس صحیح دی.

تشریح ،(۴)که چادمسلمانانولپاره داوبوحوض جوړکړیایې دمسافرولپاره سرائ جوړکړیایې رباط(قلعه یاهغه ځای چیرته چې لشکردسرحددحفاظت لپاره قیام کوي) جوړ کړیایې خپله ځمکه دقبرستان (هدیري)لپاره وقف کړه نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدله دي څخه دواقف ملک نه زائلیږي ترڅوچې حاکم ددي دوقف فرمان جاري نه کړي یاواقف ددي اضافت الی مابعدالموت ته ونه کړي کمامر،همداوجه ده چې واقف له حکم حاکم یااضافت الی مابعدالموت څخه وړاندي له دي څخه استفاده کولی شي .

ف:دامام ابویوسف رحمه الله په نزددوقف په قول کولوسره دواقف له ملک څخه زائلیږي ولی چې دده په نزدمتولی ته سپارل شرط نه دی .دامام محمد رحمه الله په نزدچې کله خلګ له سقایه څخه اوبه وڅښي اوپه خان (سرائ)اورباط کې واوسیږي اوپه مقبره کې مړه دفن کړي نودواقف ملک زائلیږي ولی چې دامام محمد رحمه الله په نزدمتولی ته سپارل شرط دی اوددي شیانودسپارلوهمداصورتونه دي .

ف:دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی لمافی ردالمحتار:لم اباپوسف بقول یصیروقفابمجردالقول لانه بمنزلة الاعتاق وعلیه الفتوی(ردالمحتار:۳/۳۹۲)

(۵)كه چاد ضرورت په اساس دعامې لارې څه برخه په مسجد كې داخله كړه نو داجائزده څكه چې دادعامو مسلمانانو ضرورت دی په دې شرط چې پرلاره دتيريدونكولپاره مضرنه وي نو داجائزدی لكه چې ددې عكس جائزدی يعنې دكوم ضرورت په اساس مسجدلاره جوړول اوپرهغې تيريدل جائزده ولې چې لاره اومسجد دعامو خلكولپاره دې لهذا دضرورت پروخت به ديوه كمې له هغه بل څخه پوره كيږي ولتعارف اهل الامصارفي الجوامع ،نوله جنب ،څاروی اوحائضه ښځو څخه ماسوا هريوه لره دتيريدلو اجازت شته.

ف:يومسجدتنگ دی دهغه دلويولوسخت ضرورت دی خلک بې چاره سخت پريشانه دې مگرله مسجد سره متصل سركاری(حكومتی)ځمكه ده اوگورنمنټ (حكومت)دمسجددلويولو اجازت نه وركوي ،په دې صورت كې مسجد بلااجازته وسيع كول جائزدي اوكه يا؟

ځواب:ددې حكم دادی چې پرحكومت باندې دمساجدو انتظام اوتعميربقدرضرورت فرض دی معهذاكه حكومت خپل دافرض نه اداء كوي بلااذن دحكومت پرځمكه تعميرجائزنه دی .والله تعالی اعلم .(جديدمعاملات كی شرعی احكام:۲/۱۹۴)

ف:كه پركومه ځمكه باندې مسلمانانو دضرورت په وجه ياله مسئلې څخه دناخبرتياپه اساس له حكومت څخه دباضابطه اجازت اخيستلوبغيركوم مسجدجوړكړ اودجوړولو پروخت اووروسته دحكومت ذمه دارانوليدی مگرمنع يې ونه كړه ترڅوچې په دې كې باقاعده په جماعت سره لمونځ شروع شونودذمه دارافسرانوسكوت هم په دې معامله كې بحكم اجازت گڼل كيږي اومسجد شرعی جوړيږي ، له دې څخه وروسته دهغه درنگولوحق هيڅ څوک نه لري ،ولې چې دضرورت په مواقعوكې مسجدجوړل په خپله دحكومت له فرائضوڅخه دی اوداځمكه دهغه مصرف ده .په دې وجه چې كله مسجد جوړشواوجماعت شروع شونواوس ده لره دختمولوحق نشته .(اسلام كانظام اراضی،۱۵۸)

ف:كه حكومت پركومه سركاری ځمكه باندې مسلمانانوته دلمانځه داداء كولوعارضي اجازت وركړاودايې واضحه كړه چې داځای به مستقل مسجدنه جوړيږي صرف په عارضی ډول سره دلمانځه داداء كولواجازت دی نوپه دې كې په باجماعت لمانځه اداء كولوسره داځای شرعی مسجدنه جوړيږي ،همداشان كه كوم كس په خپله مملوكه ځمكه كې په عارضی ډول دباجماعت لمانځه داداء كولواجازت وركړنوپه دې سره هم هغه ځای شرعی مسجدنه جوړيږي ،البته داضروري ده چې ددې دعارضی والی مكمل ثبوت موجودوي ، اوبنه خبره داده چې په داسې ځايونوكې دې كتبه وليكل شي اوودې لگول شي چې داځای مسجدنه دی ترڅوپه وروسته كې جنگ جوړنه شي .(اسلام كانظام اراضی،۱۵۹)

اللهم ارناالحق حقاوارزقنااتباعه وارناالباطل باطلاوارزقنااجتنابه
وصلی الله تعالی علی خيرخلقه محمدوعلی آله واصحابه اجمعين